سیف لودین کتابتون

سيرة المصطفى

لیکوال: مولانا محمد ادریس کاندهلوي صاحب.

پښتو ژباړن: ابوحمزه المهاجر حمدالله (سیوری)

کمپوز: حمد الله زابلی

یوازي د ح.ح.ښ د پاره سکینیږي، هیله ده په دعاوو کي یې یاد ولرئ!

س. لودین

سیف لودین کتابتون

لقد کان لکم في رسول الله أسوة حسنة

سیرة المصطفیٰ ﷺ

پښتو

تالیف

حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوی صاحب رحمة الله علیه

پښتو ترجمه

ابو حمزه المهاجر حمدالله (سیوری)

ناشر

مکتبهٔ رحمانیه

کاسي روډ کوټه

MicroZed & scanned By Saif lodin

سيف لودين كتابتون
د سیف الدین (لودین) کتابتون

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

(۲۱ آیت سورۃ الاحزاب) (القرآن)

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سیرت باندې د منلوو او لوې تالیف د اُمت اسلامي [illegible]

تاریخ پوهانو او د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د سیرت پېژندنکو د علوموزیرمه

سیرۃ المصطفٰی صلی اللہ علیہ وسلم

پښتو

لومړی ټوک

تألیف

حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوی صاحب رحمه الله

پښتو ژباړه

حمدالله

مکتبه رحمانیه
کاسي روډ کوټه
0333-7806049

سيف لودين كتابتون

دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم .... سيرة المصطفى ﷺ

تألیف .... مولانا محمد ادریس (کاندهلوی رحمة الله علیه)

پښتو ترجمه .... ابو حمزه المهاجر حمدالله (سیوری)

تصحیح او کمپیوټري چاري .... حمدالله (زابلی)

دچاپ کال .... ۱۴۳۵ هجری قمری ۱۳۹۲ هجری لمریز ۲۰۱۴ میلادی

زیر اهتمام .... ابو المصطفى خادم العلماء والطلباء

سرورق ډیزائن .... احسان الله پبلشرز
او سرکتنه ....

د ح ح سنباهن لپاره بایلا -
سمښن او ورو کښېژل سي.

۱۴۰۰/۱۱/۲۹

ددې کتاب دنشر او خپرولو ټول حقوق
له مکتبه رحمانیه سره خوندي دي

مکتبه رحمانیه
کاسي روډ کوئټه
0333-7806049

سیف لودین کتابتون

تقریظ : حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا محمد اشرف علی تهانوی قدس الله سرهٔ (۱۵)
حضرت مولانان محمد قاسم رحمة الله علیه په الاجوبة الکاملة کې فرمایې .... (۲۱)
دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دپاک نسب پاکه لړی .... (۲۶)
دنبی کریم ﷺ دمور دنسب پاکه لړی .... (۲۹)
(اماقریش فالاصح فهر جما والاکثرون النضر) .... (۳۲)
دقریش نوم ایښودلو وجه .... (۳۳)
عبدالمطلب : یاشیبة الحمدٰ .... (۳۹)
دزمزم څاه او دعبدالمطلب خوب .... (۴۰)
دعبدالمطلب نذر .... (۴۲)
عرب دنړۍ ترټولو تېرو غوره قوم دی دحسب او نسب په اعتبار .... (۴۵)
عرب دنړۍ ترټولو خلکو دلاوره او غښتلي دی .... (۴۵)
عبدُالله صاحب له بی بی آمنی سره څه وخت واده وکوي ؟ .... (۴۷)
دپیلانو په ملتیا پرمکه مکرمه دبرید کولو پېښه .... (۴۹)
پیدائیش (مبارکه زیږیدنه) .... (۵۲)
دکسری دماڼۍ څورلس کنګری راولویدی او دساوه ویاله وچه سوه .... (۵۵)
عقیقه او نوم .... (۵۹)
خُتنه (سنت کیدل) .... (۶۳)
په ماشوم والی کې پالنه او شیدی ورکول .... (۶۳)
شق صدر یعنی دسینی څیرل .... (۶۷)
دسینی څیرل یو حقیقت دی .... (۷۱)
دسینی څیرلو راوزنه .... (۷۲)
له سینی څیرلو وروسته ولی مهر ولګول سو ؟ .... (۷۵)
مهرنبوت کله ولګول سو ؟ .... (۷۵)
نبی اکرم صلی الله علیه وآله وسلم دخپل نیکه عبدالمطلب په پالنه .... (۷۶)
دعبدالمطلب مړینه .... (۷۷)
دمهربان نیکه له مړینی وروسته نبی کریم ﷺ دابو طالب په پالنه کی وو .... (۷۷)
دنبی کریم ﷺ شام ته لومړی سفر او دبحیرا راهب قصه .... (۷۸)
حرب الفجار یعنی په محرمو میاشتو کې جګړه کول .... (۸۲)
په حلف الفضول کې نبی کریم ﷺ برخه واخیسته .... (۸۴)

سيف لودين كتابتون

دنبی کریم ﷺ تجارت او کاروبار او دامین لقب............................(۸۳)
نبی کریم ﷺ یزی پسونه ځرل پیول..(۸۴)
دشام دویم سفر اوله نسطورا راهب سره دنبی کریم ﷺ لیدنه کتنه..................(۸۶)
دمیسره دقصی څیړنه او پلټنه اودسیرت د دریو امامانو یادونه او هغوئ ته لنډه کتنه......(۸۸)
موسی بن عقبه رحمة الله علیه...(۸۸)
محمد بن اسحق رحمة الله علیه..(۸۸)
امام واقدی رحمة الله علیه...(۸۹)
په سیرت النبی صلی الله علیه وسلم کې دواقدی روایات..............................(۹۲)
مسائل...(۹۳)
خدیجة الکبری له نبی کریم ﷺ سره واده..(۹۴)
دکعبی آبادول اودرسول الله صلی الله علیه وسلم فیصله ، پریکړه)......................(۹۵)
دجاهلیت له رواج اودود څخه نبی کریم ﷺ دیرلیری اوبیزاره وو.........................(۹۷)
دوحی پیل اودنبوت زیری..(۱۰۰)
درسالت لمر دفاران له لوړو څوکو راپورته سو.......................................(۱۰۹)
خدیجة الکبری رضی الله عنها ولی رسول الله ﷺ ورقه یاعداس ته وروستی..................(۱۱۶)
دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دبعثت ورځ اومیاشت...................................(۱۱۷)
رازونه اوحکمتونه...(۱۱۷)
دالله جل جلاله دتوحیداو دنبی کریم ﷺ د رسالت وروسته ترټولو لومړی کاراودس اولمونځ.....(۱۲۲)
سابقین لومړنی اوترټولو مخکې صحابه کرام رضی الله عنهم ورضوا عنهُ...................(۱۲۴)
دابوبکر صدیق رضی الله عنه اسلام راوړل..(۱۲۵)
دجعفربن ابی طالب رضی الله عنه اسلام راوړل...(۱۲۸)
دعفیف کندی رضی الله عنه اسلام راوړل...(۱۲۸)
دطلحه رضی الله عنه اسلام راوړل...(۱۲۹)
دسعدبن ابی وقاص رضی الله عنه اسلام راوړل...(۱۳۰)
دخالد بن سعید بن العاص رضی الله عنه اسلام راوړل..................................(۱۳۰)
دعثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه اسلام راوړل......................................(۱۳۱)
دعمار بن یاسر او صهیب رضی الله عنهما اسلام راوړل.................................(۱۳۴)
دعمرو بن عبسة رضی الله عنه اسلام راوړل...(۱۳۴)
دابوذرغفاری رضی الله تعالی عنه اسلام راوړل..(۱۳۵)

سیف لودین کتابتون

په دارالارقم کې د مسلمانانو اوسیدل..........(۱۳۶)

په ښکاره د اسلام بلنه درې کاله وروسته پیل سوه کله چې عمر فاروق رضی الله عنه اسلام ومنی....(۱۳۶)

د خپلو خپلوانو رابلل و اسلام ته..........(۱۳۷)

د اسلام د مخنیوی لپاره د قریشو لویه جرګه..........(۱۴۲)

د حمزه رضی الله تعالی عنه اسلام راوړل..........(۱۴۴)

د قریشو د مشرانو له لوری د اسلام د دعوت د بندلو د پاره د پیسو او حکومت او مشرتوب وړاندیز..(۱۴۶)

د مکی د مشرکینو مهمل او بی معنی غوښتنی..........(۱۴۹)

د دوئ پر غوښتنو باندی د مصنف رحمه الله علیه رڼا اچول..........(۱۵۱)

د مکی قریشو د یهود علماء سره مشوره..........(۱۵۲)

روح او نفس څه ته وایې..........(۱۵۳)

د روح او نفس تر مینځ څه توپیر دی..........(۱۵۶)

د روح شکل..........(۱۵۸)

د قریشو و نبی کریم ﷺ تکلیفونه رسول..........(۱۵۸)

د ضماد بن ثعلبه رضی الله عنه اسلام راوړل..........(۱۶۲)

د اسلام ځانګړی او سختړین بدبخته دښمنان..........(۱۶۳)

لومړی سرتمبه او بدبخت دښمن ابوجهل بن هشام..........(۱۶۴)

دویم سختړین دښمن ابولهب..........(۱۶۵)

دریم ناپوه دښمن امیه بن خلف الجمحی..........(۱۶۷)

څلورم دښمن او د نبی کریم ﷺ په لاس وژل سوی اُبی بن خلف..........(۱۶۷)

پنځم د اسلام د سترلارښود ﷺ سختړین دښمن عقبه بن ابی معیط..........(۱۶۸)

شپږم سختړین او بدبخت دښمن ولید بن مغیره..........(۱۶۸)

اووم د ابوجهل خاص دوست ابوقیس بن الفاکه..........(۱۶۹)

اتم سختړین دښمن نضر بن حارث..........(۱۶۹)

نهم بدبخت عاص بن وائل سهمی..........(۱۷۰)

لسم او یوولسم د اسلام سخت دښمنان نبیه او منبه د حجاج زامن..........(۱۷۱)

دولسم سختړین غماز اسود بن مطلب..........(۱۷۱)

دیارلسم د مسلمانانو دښمن اسود بن عبد یغوث..........(۱۷۱)

څورلسم د اسلام د ستر رهبر ﷺ دښمن حارث بن قیس سهمی..........(۱۷۱)

د مسلمانانو تکلیفونه او ستونزی..........(۱۷۳)

سیف لودین کتابتون

(امام المؤذنين بالصلاة والفلاح سيدنا ومولانا بلال بن ابی رباح رضی الله عنه .... (۱۷۳)
عمار بن یاسر رضی الله عنهُ .... (۱۷۴)
صهيب بن سنان رضی الله عنهُ .... (۱۷۶)
خباب بن الارت رضی الله عنهُ .... (۱۷۷)
اَبو فَکیهَه جُهَنی رضی الله عنهُ .... (۱۷۷)
زنیره رضی الله تعالی عنها .... (۱۷۸)
دسپوږمی ده دوه ځایه کیدلو معجزه .... (۱۸۲)
دلمرد راګرزیدلو معجزه .... (۱۸۴)
دلمرځای پرځای دریدلو معجزه .... (۱۸۴)
دصحابه کرام رضی الله عنهم لومړی هجرت وحبشه ته .... (۱۸۵)
وحبشی ته دصحابه کرام رضی الله عنهم دویم ځل هجرت .... (۱۸۶)
نارینه مهاجر رضی الله عنهم .... (۱۸۷)
ښځینه مهاجر رضی الله عنهن .... (۱۸۹)
دنجاشی په دربارکې دجعفر رضی الله عنه زړه راکښونکي تقریر اوپه نجاشی باندی دهغه اثر ..... (۱۹۰)
دقریشو له هیئت څخه دجعفر رضی الله عنه درې پوښتنې .... (۱۹۴)
دعمرفاروق رضی الله عنه داسلام راوړلو اصلی او حقیقی سبب درسول الله ﷺ دعاء وه .... (۱۹۶)
دمکی دمشرکینو پریکړه اوظالمانه پریکړه لیک لیکل دنبوت ۷ کال د محرم میاشت. (۱۹۹)
دپریکړی ماتول اودلیک پرپاڼه وَینه مسلط کیدل .... (۲۰۱)
د ابوبکرصدیق ابن قحافه رضی الله تعالی عنهُ دهجرت هوډ .... (۲۰۳)
(ابوبکرصدیق رضی الله عنه داسی وستایل سولکه خدیجة الکبری رضی الله عنها چی نبی کریم ﷺ ستایلی. (۲۰۴)
عام الحزن یادغم کال :د ابوطالب اوخدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها دوفات کال .. (۲۰۴)
پاملرنه دابوطالب دمرګ په اړه .... (۲۰۶)
وطائف ته داسلام ددعوت لپاره دنبی کریم ﷺ ستونزمن سفر .... (۲۰۷)
ضروری پاملرنه .... (۲۱۰)
له طائف دراستنیدو په وخت کې دپیریانو راتګ .... (۲۱۰)
دطفیل بن عمرو دوسی رضی الله عنه اسلام راوړل .... (۲۱۲)
فایده دکرامت په اړه بیان .... (۲۱۴)
اسراء او معرا ج (نبی کریم ﷺ ۷ اسمانونه وختی .... (۲۱۵)
دمعراج دپیښې تفصیلی بیان .... (۲۱۶)

سیف لودین کتابتون

نزول اقدس علی بیت المقدس دپاک نبی ﷺ راکښته کیدل په پاک کور کې ....(۲۲۰)

دابراهیم علیه السلام حمد ....(۲۲۱)

دموسی علیه السلام ثناء اوصفت ....(۲۲۱)

دداؤد علیه السلام ثناء اوصفت ....(۲۲۲)

دسلیمان علیه السلام حمد اوثناء ....(۲۲۲)

دعیسی علیه السلام حمدا وثنا ....(۲۲۲)

دمحمد مصطفی صلی الله علیه وسلم حمد اوثناء ....(۲۲۲)

واسمانوته ختل ....(۲۲۳)

داسمانوسفر اوپه اسمانو کې له انبیاء علیهم السلام سره دنبی کریم ﷺ لیدنه ....(۲۲۴)

سدرة المنتهی ....(۲۲۵)

دجنت او دوزخ لیدنه ....(۲۲۶)

صریف الاقلام ځای ....(۲۲۶)

دنواوتدلی نژدیکت او نوردالله ﷻ دیدار اوخبری اودالله ﷻ حکمونه ....(۲۲۷)

دلمرځای پرځای درېدلو معجزه ....(۲۳۱)

دمعراج باریکۍ اودپټورازوپېژندنه اواحکام ....(۲۳۱)

مسائل ....(۲۳۴)

پرمعراج دېیدنانو اوآزادخیالو سوالونه اوزموږ ځوابونه ....(۲۴۰)

دحج په وخت کې داسلام بلنه؛ ....(۲۴۱)

دایاس بن معاذ رضی الله عنهٔ اسلام راوړل ....(۲۴۴)

په مدینه منوره کې داسلام پیل وسودنبوت ۱۱ کال ....(۲۴۴)

دالومړنی مسلمانان دخزرج قبیلی څو تنه وو او ددوئ نمونه ....(۲۴۵)

دانصارو لومړني بیعت کال ۱۲ نبوی ....(۲۴۵)

درفاعه رضی الله عنهٔ اسلام راوړل ....(۲۴۷)

په مدینه منوره کې دجُمعی مبارکی لومړئ لمونځ ....(۲۴۸)

دانصارو ؓ دویم بیعت کال ۱۳ نبوی اوددوئ نومونه ....(۲۴۹)

تربیعت وروسته دمشرانو تاکل ....(۲۵۲)

بیعت څه ته وایې اودلته یې څه مناسبت دی ....(۲۵۳)

په لاس دبیعت مسئله ....(۲۵۴)

(۲۵۷)

سیف لودین کتابتون

په دارالندوه کې دقریشوغونډه اودنبی کریم ﷺ دشهادت مشوره	(۲۶۱)
فایده	(۲۶۵)
غار ثور	(۲۶۶)
پټ رازونه اوحکمتونه او داذهمافی الغار آیت تحقیق او ثیرنه	(۲۶۸)
خلاصه دابوبکرصدیق رضی الله عنه دغوره والی	(۲۷۷)
فائده	(۲۷۹)
ومدینی منوری ته دنبی کریم ﷺ دروانیدورځ اوتاریخ	(۲۷۹)
دام معبدرضی الله عنها خیمه	(۲۸۰)
دسراقة بن مالک قصّه	(۲۸۳)
دبریده اسلمی رضی الله تعالی عنه داسلام راوړلو قصه	(۲۸۵)
نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په قباء کښې دمسجدِ تقوی بنیاد کیښودی	(۲۸۷)
دهجرت تاریخ	(۲۸۸)
داسلامی تاریخ پیل کله وسو؟	(۲۸۸)
دجُمعی لومړنی لمونځ او دجُمعی لومړنی خطبه چی خطبة التقوی ورته وایې	(۲۸۹)
نکته	(۲۹۱)
په مدینه منوره کې به دیهود علماء درسول اکرم ﷺ په خذمت کې حاضرید ل	(۲۹۵)
دعبدالله بن سلام رضی الله عنه ، اسلام راوړل	(۲۹۷)
دمیمون بن یامین رضی الله عنه اسلام راوړل	(۲۹۹)
دسلمان بن اسلام رضی الله عنهُ اسلام راوړل	(۲۹۹)
دمسجدنبوی آباد ول	(۳۰۴)
دامهات المؤمنین رضی الله عنهن لپاره دحجرو جوړول	(۳۰۸)
دامهات المؤمنین رضی الله عنهن له مړینی وروسته دحجرو حالت	(۳۰۸)
دخلفاء راشدینو زیادت په مسجدنبوی کې چی خاتم المساجدورته ویل کیږی	(۳۰۹)
دجنازی دلمانځه ځای	(۳۱۰)
دمهاجرینو او انصاررضی الله عنهم ورور ګلوی	(۳۱۱)
دویم ځل وروړګلوی	(۳۱۲)
ورونه	(۳۱۳)
آذان کله پیل سو	(۳۱۵)
داذان حکمتونه او معلومات	(۳۱۷)

سیف لودین کتابتون

له مکی مکرمی څخه هجرت و مدینی منوری ته............(۳۲۰)
نبی کریم ﷺ له قباء څخه ومدینی منوری ته ورسیدی............(۳۲۲)
دمدینی منوری له یهودو سره پریکړه لیک لاسلیک سو............(۳۲۳)
دپریکړه لیک مادی............(۳۲۵)
پاملرنه :دیوی غلط فهمی لیری کیدل............(۳۲۶)
د لومړی هجری کال بیلابیلی پیښي............(۳۲۷)
دصرمة بن ابی انس رضی الله عنهُ اسلام راوړل............(۳۲۸)
په دویم هجری کال کې دقبلی بدلون............(۳۲۹)
صُفّه او اصحاب صُفّه............(۳۲۹)
مسـئله :په مسجد کې خوراک............(۳۳۲)
داصحاب صُفّه رضي الله عنهم غوره صفات او ښه خویونه............(۳۳۳)
داصحاب صفه رضی الله عنهم نمونه............(۳۳۳)
رمضان المبارک :دروژی برکتمنده میاشت............(۳۳۴)
دکوچنی اخترلمونځ او زکوة الفطر (سرسایه) دهجرت دویم کال............(۳۳۴)
دلوی اختر لمونځ اوقربانی دهجرت دویم کال............(۳۳۵)
دُرود شریف هم په دویم کال دهجرت............(۳۳۵)
دنغدوروپو او تجارت دمال زکوة څه وخت فرض سو............(۳۳۵)
دالله عزوجل په لاره کې له کافرانو سره جهاد کول............(۳۳۶)
خلاصه............(۳۳۸)
دجهاد حکم څه وخت نازل سوی دی............(۳۴۲)
دجهاد اغراض اواهداف او مقاصد............(۳۴۳)
جهاد څه ته وایي............(۳۴۴)
خلاصه دکلام دادی............(۳۴۷)
دقومیت پالونکو لویه غلطی............(۳۴۸)
دجهاد آداب............(۳۴۸)
دجهاد اقسام............(۳۵۰)
دجهاد مثال............(۳۵۲)
دجهاد اصلی هدف او مقصد څه دی ؟............(۳۵۳)
اسلام اوزور............(۳۵۴)

سیف لودین کتابتون

اسلام او د مریې توب یا غلامی مسئله .... (۳۵۸)
حاصل: دادی چې مریې توب د خدای ﷻ څخه د سرغړونی سزاده .... (۳۶۰)
دیوه شکمنی خبری روښانه کول .... (۳۶۴)
سیاسی مریی توب .... (۳۶۵)
د مبارکو غزاګانو او سریو لړی .... (۳۶۶)
د غزاګانو شمیر څو دی؟ .... (۳۶۶)
د سریو یا ټولګی لیږلو شمیر .... (۳۶۶)
لومړی سریه سید الشهداء حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه .... (۳۶۶)
دویمه سریه د عبیده بن الحارث رضی الله عنه سریه .... (۳۶۷)
دریمه د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه سریه .... (۳۶۷)
لومړی د ابواء غزا .... (۳۶۸)
دویمه: د بواط غزا .... (۳۶۸)
دریمه: د عشیریه غزا .... (۳۶۹)
څلورمه: د بدر لومړی وړه غزا یاد سفوان غز .... (۳۷۰)
څلورمه: د عبد الله بن جحش رضی الله عنه سریه .... (۳۷۰)
په اسلام کې لومړنۍ غنیمت .... (۳۷۱)
پنځمه: د بدر لویه غزا د هجرت دویم کال د روژی مبارکه میاشت .... (۳۷۴)
د بدر غازیان بدر ته روان سو .... (۳۷۶)
د قریشو د روانیدو خبر او د صحابه کرام ﷺ په خپل مینځ کې مشوره .... (۳۷۸)
د مقداد بن اسود رضی الله تعالی عنه ځان قربانونکی تقریر .... (۳۷۹)
د سعد بن معاذ رضی الله عنه ځان ځارونکی خبری .... (۳۸۰)
د عاتکه بنت عبد المطلب خوب .... (۳۸۱)
د جهیم بن الصلت خوب .... (۳۸۲)
د بدر د جنګ د پاره د صحابه کرام ﷺ تیاری .... (۳۸۵)
د بدر په میدان کې د عتبه خبری او د بیرته ستنیدو غوښتنه .... (۳۸۸)
د بدر په میدان کې جګړه پیل سوه؟ .... (۳۸۹)
د بدر په میدان کې د عتبه او شیبه او ولید وژل کیدل .... (۳۹۰)
فایده: د عتبه او شیبه نه غوښتل چې جنګ پیښ سی .... (۳۹۱)
د الله ﷻ په دربار کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دیرې دعاء وکړه .... (۳۹۲)

سیف لودین کتابتون

دیوی شکمنی خبری ځواب..(۳۹۳)
دمسلمانانو دمرستی لپاره له اسمان دفرشتو راکښته کیدل..........(۳۹۴)
ملائکه وو ته دجهاد اوجنګ طریقه وښودل سوه..........................(۳۹۶)
دابوجهل دُعا اوقریش دجنګ لپاره پارول..................................(۳۹۸)
دامیّه بن خلف اودهغه دزوی وژل کیدل.....................................(۴۰۱)
دبدرپه میدان کې دالله ﷺ ددښمن اوددې امت دفرعون ابوجهل وژل کیدل............(۴۰۲)
له بری وروسته دابوجهل دمړی لټون...(۴۰۳)
باریکي...(۴۰۴)
فوائد..(۴۰۵)
دبدر بندیان...(۴۰۶)
په بدرکې دوژل سویو مشرکینومړی دبدر وکوهی ته واچول سو..............(۴۰۶)
فایده دمړی داوریدوپه اړه بیان...(۴۰۷)
دبری دزیری لپاره مدینی منوری ته دقاصد لیږل..........................(۴۰۸)
دغنیمت دمال ویش..(۴۰۸)
دبدر بندیان په مسلمانانو وویشل سو اوله هغوئ سره دښه چلند اونیکی حکم وسو......(۴۱۰)
دبدر دبندیانو په اړه مشوره..(۴۱۱)
تنبیه..(۴۱۲)
په فدیه اخیستلو باندی دالله تعالی له لوری ملامتیا وویل سوه..............(۴۱۳)
سوال دفدیه پراخیستلولی ملامتیا وویل سوه...................................(۴۱۶)
فایده..(۴۱۷)
دفدیه اندازه...(۴۱۸)
ومکی ته دبدر دجنګ حال رسیدل..(۴۱۹)
دکوچنی اخترلمونځ..(۴۲۷)
دبدر دغازیانو فضائل اوصفات..(۴۲۸)
دبدر د غازیانو رضی الله تعالی عنهم شمیر....................................(۴۲۹)
دبدردغازیانورضی الله عنهم وعنامعهم اجمعین دنومونوخصوصیت............(۴۳۰)
دبدردمهاجرینو رضی الله تعالی عنهم وعنا معهم اجمعین دنمونوفهرست............(۴۳۰)
دبدریانو انصارو رضی الله تعالی عنهم وعنا معهم اجمعین دنومونولیسټ..........(۴۳۲)
دبدردملائکه وو علیهم السلام نومونه..(۴۳۴)

سیف لودین کتابتون

دبدر دشهیدانو رضی الله تعالی عنهم ورضوا عنه نو مونه........................(۴۳۵)
دبدر دبندیانو نومونه..(۴۳۸)
داسلام په مقابله کې دنوم اووطن قوم ژبه تربورگلوی په نامه جنگیدل..............(۴۳۹)
دبدرغزاتاسوته دویم ځل ښه روښانه کیږی..(۴۴۱)
دعصماء یهودیه وژل کیدل دهجرت دویم کال دروژی مبارکی ۲۶.....................(۴۴۵)
دقرقرة الگدر غزا...(۴۴۷)
دابو عفک یهودی وژل کیدل..(۴۴۷)
دبنی قنقاع غزا دهجرت دویم کال دکوچنی اختر دمیاشتی ۱۵دخالی ورځ..............(۴۴۸)
دسویق غزا دهجرت دویم کال دذی الحجه پنځمه ۵................................(۴۴۹)
دلوی اختر لمونځ..(۴۵۰)
دسیدة النساء فاطمة الزهراء رضی الله تعالی عنها نکاح دهجرت دویم کال............(۴۵۰)
دغطفان غزا دهجرت دریم کال ودې ته دانمار اوذي امر غزاهم وایې..................(۴۵۱)
دبُحران غزا دهجرت دریم کال ددویمی خورمیاشت..................................(۴۵۳)
د یهودی کعب بن اشرف وژل کیدل دهجرت دریم کال...............................(۴۵۳)
دکعب بن اشرف دژول کیدو لاملونه اوسببونه......................................(۴۵۶)
دحویصه بن مسعود رضی الله تعالی عنه داسلام روا ړولو قصه.......................(۴۵۷)
دزیدبن حارثه رضی الله تعالی عنه سریه د هجرت دریم کال.........................(۴۵۸)
دیهودی ابو رافع وژل کیدل دهجرت دریم کال.....................................(۴۵۸)
دأحد غزا دهجرت دریم کال...(۴۶۰)
دمکی مشرکینو ښځی هم له ځان سره په لښکرکې ملگری کړی.........................(۴۶۱)
رسول الله صلی الله علیه وسلم دقریشوپه اراده عباس ﷺ خبرکی......................(۴۶۱)
رسو ل الله ﷺ له صحابه کرام ﷺ سره مشوره..(۴۶۱)
دأحدلپاره درسول الله صلی الله علیه وسلم تیاری او دوسلې یاسلاح غوښتنه............(۴۶۳)
أحدته درسول الله ﷺ روانیدل اودفوځ تیارسی.....................................(۴۶۴)
دأحد له فوځ دمنافقینو بیلوالی اوشاته تګ.......................................(۴۶۵)
د أحددفوځ ترتیب اوسمبالول...(۴۶۶)
په أحد کې دقریشودلښکر حال...(۴۶۷)
په أحد کې رسول الله ﷺ ابو دجانه ﷺ ته توره ورکړه...............................(۴۶۷)
دأحد جگړه پیل سوه اودقریشو جنگیالی یوپه بل پسی وژل کیدل.......................(۴۶۸)

سیف لودین کتابتون

لومړی مبارز داحد په میدان کې .... (۴۶۸)

ابو دجانه ؓ داحد په میدان کې سره لنګوټه وپیچله دغیرت شجاعت دلاوری نښه ...... (۴۷۰)

دحمزه ؓ دغیرت دلاوری اوجګړی اوشهادت یادونه .... (۴۷۱)

داُحد شهید حنظله غسیل الملائکه رضی الله تعالی عنه دشهادت بیان .... (۴۷۳)

داحد دغره له کنده غشی ویشتونکی له خپل ځایه ولاړسو اوجنګ پربل مخ واوښتی .. (۴۷۴)

داحد غره په کندوکې دعبدالله بن جبیر ؓ اودهغه دلسو ۱۰ ملګرو شهادت .... (۴۷۴)

دمصعب بن عمیر رضی الله تعالی عنه شهادت .... (۴۷۴)

دحذیفه ؓ پلار یمان ؓ دمسلمانانو په لاس په غلطی شهید سو .... (۴۷۴)

په احد کې دخالدبن ولید په ناڅاپی برید سره داسلامی لښکرپښې ښویدل اودرسول الله ﷺ بې
مثاله استقامت اوثابت قدمی .... (۴۷۵)

په اُحد کې درسول الله صلی الله علیه وسلم دفاعی کونکي ؓ .... (۴۷۵)

په احد کې دقریشو په رسول الله ﷺ ناڅاپی هجوم راوړل اودصحابه کرام ؓ قربانی ...... (۴۷۶)

په احد کې دشهید زیادبن سکن ؓ شهادت .... (۴۷۶)

په احد کې عتبه بن وقاص رسول الله ﷺ په کانی وویشتی .... (۴۷۶)

په احد کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی دعبدالله بن قمیه برید .... (۴۷۶)

په احد کې له رسول الله ﷺ سره دعلی ؓ اوطلحه ؓ مرسته .... (۴۷۷)

په اُحد کې دابو دجانه رضی الله تعالی عنه لا مثال قربانی .... (۴۷۸)

رسول الله ﷺ دقریشو دیو شمیر مشرانو په حق کې ښیرا کول اودآیت نزول .... (۴۷۹)

فایده .... (۴۸۰)

داحد په غزا کې دقتادة بن النعمان ؓ سترګه ووتله اورسول الله ﷺ هغه بیرته .... (۴۸۰)

په احد کې درسول الله ﷺ دشهادت ددرغو خبر خپریدل .... (۴۸۱)

په احد کې د حضرت انس بن النضر ؓ دشهادت قصه .... (۴۸۱)

په اُحد کې مشرک اُبَیّ بن خلف درسول الله ﷺ په لاس مبارک ووژل سو .... (۴۸۳)

علی ؓ اوفاطمه ؓ درسول الله صلی الله علیه وسلم زخمونه مینځی .... (۴۸۳)

په احد کې قریشو شهیدان صحابه کرام ؓ مُثله کړه .... (۴۸۳)

دابوسفیان پوښتنی او دعمرفاروق رضی الله تعالی عنه ځوابونه .... (۴۸۴)

فوائداومسائل .... (۴۸۶)

دسعدبن ربیع رضی الله تعالی عنه دشهادت بیان .... (۴۸۷)

دسیدالشهداء حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه دبدن لټون .... (۴۸۸)

سيف لودين كتابتون

دعبدالله بن جحش رضی الله تعالی عنه دشهادت يوه عجيبه قصه...............(۴۸۹)
فايده :...(۴۹۰)
دعبدالله بن عمرو بن حرام رضی الله تعالی عنه دشهادت قصه...........(۴۹۱)
دعمرو بن الجموح رضی الله تعالی عنه دشهادت بيان...........................(۴۹۲)
دسعد ﷺ دپلار خيثمه رضي الله عنه دشهادت قصه.......................(۴۹۳)
داُصَيرِم رضی الله تعالی عنه شهادت.......................................(۴۹۳)
دمدينې هروګړی درسول الله ﷺ دسلامتيا اوروغتيا غوښتونکي وو..................(۴۹۴)
دجنګ په ميدان کې پرمخلصو مسلمانانو باندی دخوب اوسکون نازليدل...............(۴۹۴)
په جنګ کې دميرمنو برخه اودهغه حکم..(۴۹۵)
داُحد د شهيدانو جنازه اوکفن څنګه وسو..(۴۹۸)
دقوم په نامه وژل سوی ته شهيد نه ويل کيږی..(۴۹۸)
داحد دغزا حکمتونه اوپټ رازونه اومسلمانانو ته خبرداری............................(۴۹۹)
داحد په غزاکی له بری وروسته دماتی راتلو په حکمت اولارښوونولندی خبری..........(۵۰۴)
داحد دماتی له رازو وروسته الله ﷻ دپخوانو انبياء عليهم السلام دملګروبيان وکوی.........(۵۰۷)

سیف لودین کتابتون

بسم الله الرحمن الرحیم

تقریظ : حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا محمد اشرف علی تهانوی قدس الله سره

امابعد : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْعَلِیِّ الْحَکِیْمِ وَالصَّلٰوةُ عَلٰی نَبِیِّهٖ ذِی الْخُلُقِ الْعَظِیْمِ

احقرالوری محمد اشرف علی تهانوی عفی عنه وایې چې ما د سیرة المصطفی ﷺ کتاب یو شمیر ځایونه خپله د فاضل جامع الکمالات علمیه وعملیه مولوی حافظ محمد ادریس کاندهلوی سلمه الله تعالی له ژبې څخه واوریدل او ودې ځایو داوریدو په وخت کې می بیخي داخبره سترګو ته مخامخ سوه :

یزیدک وجهه حسناً ...... اذا ما زدته نظراً

هغه ځایونه چې ما څنې واوریدله دادي :

لومړی دکتاب سریزه

دویم دبدأ الوحی بیان چې په هغه کې داخبره سوی چې ښه خوبونه دنبوت یوجزء دی پر دې خبری سوی دی او ودې رازونه او حکمتونه بیان سوی دی

دریم : دنجاشی باچا په دربار کې دحضرت جعفر طیار رضی الله عنه تقریر

څلورم : داصحاب صفه رضی الله عنهم بیان

پنځم : انبیاء کرام علیهم السلام ترنبوت مخکې هم له ګناهو پاک دی او دسیرت چې څومره ضروری حقوق او لوازم دی ماشاء الله هغه په ځانګړی ډول مراعت سوی دی ، الله تعالی دې ښه بدله ورکړی آمین ؛

ځای ځای ما احقرهم کوچنۍ اووړې مشوری ورکړی دی چې هغه نوموړی مصنف په ډیره خوشالی قبولی کړی دی او دا دنوموړی دانصاف او اخلاص ښکاره دلیل دی ، اَللّٰهُمَّ زِدْ فَزِدْ ، دکتاب عنوان او معنون داسی په زړه پوری او ودې خبری مصداق دی :

زفرق تا بہ قدم ہر کجا کہ می نگرم

کرشمہ دامن دل می کشد کہ جا این جاست

که چیری له ماسره وخت او قوت وای نو کتاب به مې له سره ترپایه پوری لوستلی وو خو د کمزوری او دوخت دتنګۍ له کبله مې دا هیله پوره نه سوه امید دی چې پاته کتاب به هم ان شاء الله تعالی د ، وَلَلْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لَّکَ مِنَ الْاُوْلٰی ښکاره مصداق وی

سیف لودین کتابتون

اوس زه دا تائيد په يوه خاص مشورې او يوه عام مشوره او دُعا باندې پای ته رسوم خاصه مشوره چې ددې درانه فاضل د کتاب په هکله ده داده چې په پورته يادسويو ځايو کې په پنځم ځای باندې زما رساله ،، احسن التفهيم لمقولة سيدنا ابراهيم ، چې دامداد الفتاوی جزء دی او ددې پنځمه برخه له (۴۰۸) صفحې څخه تر ۴۱۲ پورې په اشرف المطابع کې چاپ سوې دی بعينه دغه شئ ياله يو څه اختصار سره زيادت په کښې سوی دی چې ددې کتاب ښه تائيد دی ،

او عامه مشوره مې عامو لوستونکو ته دغه دا چې هر څوک چې داردو يا پښتو ژبې استعدار لري هغه دې دنوموړی کتاب له درس يا مطالعې څخه نه پرېږدی ځکه ددې يوه لويه ګټه او لاس ته راوړنه به داوي چې ددې کتاب په لوستلو سره به خپل محبوب پيغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم وپيژنی او په پيژندلو سره به خامخا دده له محمد مصطفی ﷺ سره مينه .پيداسی او په دې سره به دسوی ژمنی برابر په جنت کې دهغه مبارک ﷺ ملګرتيا په نصيب سی او ددې نعمت په لوی والی کې څوک شک کولای سی.

او دُعا دادی : چې الله تعالی دې مؤلف ته پټ او ښکاره اُخروی برکتونه وروبخښی او دنوموړی کتاب دې مقبول او فايده مند وګرزوی والسلام ، آمين ثم آمين

(اشرف علی)

(تهانه بهون /دشوال مياشتی نهمه کال / ۱۳۵۸ هجری سپوږمېږ)

سيف لودين کتابتون

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ خَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّاتِهٖ اَجْمَعِيْنَ ؛

امابعد

دالله ﷻ بنده محمد ادريس كاند هلوی (كان الله له وكان هو لله) له ټولو مسلمانانو دا غوښتنه لری چی دمسلمان اومؤمن لپاره خپل ځان پيژندل دومره ضروری نه دی لکه څومره چی دمُحَمَّدٌرَّسُوْلُ الله صلی الله عليه وسلم پيژندل ضروری دی څوک چی محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم نه پيژنی هغه به خپل ايمان او اسلام څرنګه وپيژنی مؤمن په خپل ايمانی وجودکښي سراسر دپيغمبر ﷺ دوجود محتاج دی العياذبالله که دپيغمبر ﷺ دوجود څخه نظر قطع کړل سی نوديوه ګړی دپاره هم دمؤمن ايمانی وجودنه سی پاته کيدای لکه چی دالله تبارک وتعالی ارشاددی :

النَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ (٦آيت سورة احزاب)

ژباړه :نبی ﷺ دمؤمنانوپه حق کښی ددوئ ترخپلو ځانو هم ډير نژدی دی ..

ځکه دمؤمن ايمانی وجود دپيغمبری دلمريو معمولی عکس اوانځوردی اوښکاره خبره دی چی عکس چی کوم نژديکت اوتعلق له خپل اصل سرچينی يعنی لمر سره لری هغه په هنداره کې نسته مؤمن ته ايمان دنبی ﷺ په واسطه رسيږی نومعلومه سوه چی ايمان ته نژدی دی اوله مؤمن څخه ليری دی ځکه چی نبی ﷺ په ايمان سره بالذات متصف دی او مؤمن په ايمان سره بالعرض متصف دی له دې وجهی داضروری ده چی مؤمن دخپل ځان اودخپل ايمان پيژندلو څخه مخکې دخپل نبی ﷺ سيرت وپيژنی ، ددې دپاره چی په همدې لاره روان سی اونورو خلکوته هم په همدې لاره باندی دتللوبلنه ورکړی ..

الله تعالی په سورت هودکې له سره ترپايه دانبياء اومرسلينو عليهم السلام حالات اوقصی ذکرکړی دی په پای کې يې ددې حکمت بيان کړی دی چی موږ دانبياء اومرسلينو عليهم السلام حالات ولی بيان کړه : وَكُلًّا نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ وَجَاءَكَ فِيْ هٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ (آيت ۱۲۰ سورة هود) ژباړه : اوموږتاته دانبياء قصي بيانوودې لپاره چی په دې سره ستازړه ته قوت اوسکون ورښنو اوددې پيښنو په ترڅ کې دمؤمنانودپاره حق اوحقيقت اونصيحت اويادونه مخ ته راځی .

سیف لودین کتابتون

يعني ددې لپاره چې ددې پیښوپه بیانولوسره ستاسو زړوته آرام اوډاډ حاصل سی اوستاسوزړونه په ایمان باندی قائم اوثابت پاته سی اوحق درته ښکاره سی اوددې پیښوپه اوریدوسره عبرت اوپندحاصل کړی لکه چې دقرآن کریم ډیر سورتونه دهغه انبیاء علیهم السلام په نومونوسره نومول سوی دی دکوموسیرت چې په دغه سورتوکې ذکرسوی دی لکه سورت یونس اوسورت هود اوسورت یوسف اوسورت ابراهیم اوداسی نور سورتونه ، اوّدسورت لقمان اوسورت کهف نوم دحضرت لقمان اواصحاب کهف په نومونوسره نمول سوی دی له دې څخه معلومیږی چې دانبیاء کراموعلیهم السلام اوښوخلکو سیرت اوتاریخ لیکل څومره ضروری دی ،په سیرت سره درسول کریم صلی الله علیه وسلم فضائل او کمالات معلوٗمیږی ، چې په دې سره په ایمان کې زیات والی اوقوت پیداکیږی اوډیروآیاتو اواحادیثو معنی زده کیږی اوکوم خلک چې بی ایمانه دی دوئ که سیرت ووایې نوددوئ په حق کې دسیرت علم دایمان ددعوت اودحق خواته دبلنی سبب جوړیږی

ټولو امتو دخپلو خپلو پیغمبرانو اوقومونو دخپلو خپلو سردارانو اومشرانو سیرت اوتاریخ لیکلی دی خوټول نیمګړی دی دکوموقبیلوچې داحال وی چې کوم شئ چې دوئ اسمانی صحیفه اوالهی کتاب بولی هغه ددوئ سره خوندی نه وی اوداورته معلومه هم نه وی چې پرچانازل سوی دی اوکله نازل سوی دی اوکوم ځای نازل سوی دی اوڅنګه نازل سوی دی اوهغه څوک چې دوئ یې خپل پیشوی بولی دهغه دقبر نوم اونښان هم دوئ ته نه وې معلوم نو دوئ دخپل مقتدی اوپیشوی پوره سیرت اودژوند حالات چیری وړاندی کولای سی دپوره ژوند حالات اوقصی خولوی شئ دوئ دخپل پیشوی یوه خبره هم داسی نه سی وړاندی کولای چې دهغې خبری سند ددوئ ترپیشوا پوری مسلسل ور سیږی ..

الحمدلله ثم الحمدلله داعزت اوشرافت یوائی اویوائی وامت محمدی (علی صاحبها الف الف صلوة والف الف تحیة) ته ورکړل سوی دی چې دوئ دخپل پیغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ هر ه خبره اوهر کار متصل اوپه مسلسل سندسره وړاندې کوی یوائی داهغه امت دی چې دخپل نبی ﷺ سره متصل اوموښتی دی دنبوی وخته بیاتراوسه پوری هیڅ کړی اولحظه داسی نه دی تیره سوی چې په هغه کې دی داامت دخپل نبی څخه جلاسوی وی ،

2/2

سيف لودين كتابتون

درسول الله صلی الله علیه وسلم اصل سیرت خو مبارک احادیث دی مگر دمتقدمینو په اصطلاح کې یوائې دغزاگانو او سریه دحالاتو او پیښو ومجموعې ته سیرت ویل کیږی حدیث داتو علومو د مجموعې نوم دی او سیرت دهغه اتو یو قسم دی :

سیر، آداب، تفسیر ،وعقائد ....فتن، اشراط، احکام ، ومناقب

مگر په اوس مهال کې سیرت دژوند حالاتو ته وایې .

محدثینو چې دجرح او تعدیل کوم قواعد ایښي دی او دصحیح او ضعیف پیژند لوپې چې کومه کچه ټاکلی ددې قواعدو بی له فرق او خاص والی په هرځای کې لحاظ ساتل سوی دی او ټوله حدیثونه که هغه له احکامو سره تړاو لری او که له مغازی یامناقبو سره ټول په همدې معیارباندی تلل سوی دی ، البته په کومو احادیثو باندی چې ددین دار ومدار وو لکه عقائد او حلال او حرام محدثینو ددې احادیثو په منلو کې دسختې څخه کار اخیستی دی اوپه کومو احادیثو چې ددین دار ومدارنه وو لکه فضائل او مناقب هلته له فراخی او آسانی څخه کار اخیستل سوی دی ځکه چې هلته عمل مقصود نه وی بلکې یوائې علم مقصود وی له دې کبله په داسی ځای کې مناسب هم فراخی وی لکه امام احمد ابن حنبل رحمة الله علیه چې وایې :اذا روینا فی الحلال والحرام تشددنا واذا روینا فی الفضائل تساهلنا :

ژباړه : کله چې موږ دحلال او حرام په اړه یو روایت رانقل کوو نو سختی کوو او کله چې دفضائلو او مناقبو په اړه یو روایت رانقل کوو نو نرمی کوو ...

مختصره خبره دادی چې دصحت او ضعف چې کوم معیار او قاعده داحکامو په احادیثو کې دی هم هغه قاعده په مغازی او سیرت کې هم دی په همدی قاعدو باندی احادیث تلل کیږی او دهمدې په قوانینو پرته له څه توپیره دصحیح او ضعیف حکم ورکول کیږی ، کومو محدثینو چې په خپل کتابو کې دصحت التزام کړی دی هغوئ هر رنگه حدیثونه که داحکامو سره تعلق لری او که له مغازی یامناقبو سره ټول په صحیح طریقه سره راټول سوی دی ، لکه صحیح بخاری ، صحیح مسلم ، صحیح ابن خزیمه ، منتقی ابن جارود او صحیح ابن حبان ، په دې کتابو کې دسیرت او مناقبو ډیره لویه زخیره شتون لری او ټوله صحیح دی ،

او کومو محدیثنو چې په خپلو کتابو کې دصحت التزام نه دی کړی ددوئ هدف داوو چې دحدیث زخیره رایو ځای سی او درسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه چې هر څه نقل

سیف لودین کتابتون

سوی وی هغه ټوله یوځل خوندی سی وروسته دې بیا هغه وکتل سی ځکه چی کله سند موجود وی نو بیا د حدیث تلل د جرح او تعدیل په ترازو برابرول څه مشکل کار نه دی لنډه دا چی دغه مبارکانو د حدیث دیوځای کیدو پوره کوښښ کړی دی دوئ داڅه وکړه چی چی هیڅ یو حدیث پاته نه سی..

محدثینو مبارکانو یوی خواته د جرح او تعدیل اصول او قوانین جوړ کړی دی د دې لپاره چی هیڅ غلطه خبره نبی کریم ﷺ ته منسوبه نه سی پر نبی کریم ﷺ باندی دروغ ویل که څه هم قصداً خو نه وی خو بیا هم دورغ او خطا خو خامخا دی همدارنګه محدثینو بل لوری ته دا احتیاط وکړ چی کوم روایت دوئ ته رسیدلی هغه یې په سندسره پرته له څه تغیر او تبدیل په خپل کتاب کې درج کړل د دې لپاره چی د نبی کریم ﷺ یوه خبره او یو کار هم پټ پاته نه سی او هیڅ خبره چی د نبی کریم ﷺ د ژبی مبارکی څخه راوتلی ده ورکه نه سی او دا سند که څه هم مستند نه وی خو کیدای سی چی دا روایت په بل سند سره هم نقل سی نو د سند و ډیروالی او د طریقو اختلاف ته په کتلو به راتلونکې علماء د دې فیصله په خپله وکوی چی دا روایت په کومه درجه کې مستند دی ډیر صحیح روایتونه د ډیرو سندو راوړلو په وجه د تواتر او شهرت حد ته رسیدلی وی له دې کبله یو شمیر محدثینو وچ او لامده روایتونه راویوځای کړه دا دوئ بی احتیاطی نه بلکې عین احتیاط دی په دې حدیث شریف سره دوئ عمل وکړ (بَلِّغُوا عَنِّیْ وَلَوْ آیَةً) ژباړه یعنی له ما څخه چی څه اوری هغه ورسوي که څه هم هغه یوه خبره وی..

او بل دا چی ډیر وخت په ضعیف روایاتو کې یو لفظ داسی راوزی چی په هغه سره د صحیح حدیث مراد ښکاره او روښانه سی او په صحیح حدیث کې چی د ډیرو معنی وو کوم احتمال وی هغه د دغه لفظ په زیاتولو سره ختمیږی او د نبی کریم ﷺ مراد په ډاګه کیږی او بل دا چی محدثینو حضراتو چی دغه روایتونه په خپلو کتابونو کې درج کړه خپل عقل او پوهه ته یې په کښې دخل نه دی ورکړی که متعارض روایتونه و دوئ ته رسیدلی وی نو په هم هغه تعارض یې درج کړی دی ځکه کله ناکله په ښکاره د دوو آیاتو یا روا یتو تر منځ تعارض وی خو کوم سړی ته چی الله تعالی د دې پوهه ورکړی وی د هغه په نظر کې تعارض نه وی هغه دغه دوه روایتونه د الله ﷻ دورکړی پوهی او عقل او فراست په وجه بیل بیل سره وینی بلکې همداسړی چی تر یو څه وخته پوری و د ته په دغه دوو روایاتو کې

تعارض ښکاره کیږی کله چی دده په زړه باندی دالله ﷻ له لوری دخه رڼا انځور پریوزی نو دغه وخت یې سترګی خلاصی سی اوددواړو روایتو فرق کولای سی اودئ به پوه سی چی داټوله اختلاف اوتعارض زما په فهم کې وو په حدیثو کې څه تعارض او ختلاف نه وو

حضرت مولانان محمدقاسم رحمة الله عليه په الاجوبة الکاملة کې فرمايي :

چی داحادیثو کتابونه په دريِ قسمه دی لومړی داچی مصنف په خپل کتاب کې داپرځان لازم کړی وی چی دصحیح حدیث څخه پرته بل قسم حدیث نه راوړی لکه بخاری شریف اوصحیح مسلم شریف اوداسی نورددې احادیثو مثال داسی دی لکه دطبیب نسخه په نسخه کې چی څه وی هغه دناروغ لپاره ګټوروی (۱)

اودویم قسم دادی چی صحیح اوضعیف هررنګه حدیث راوړی صحیح اوضعیف سره بیله وی لکه ترمذی شریف په ترمذی کې چی کوم حدیث راسی له هغه وروسته ترمذی صا حب وايې چی داحدیث صحیح دی اوداضعیف دی ددې مثال داسی دی لکه دطب په ډیرو کتابو کښی مفرده ، مرکبه ، ګټور اوزیانمن درمل لیکی بیاورسره لیکی چی دا درمل ګټه لری اودادرمل زیان لری دطب دکتابو په کتلو سره هیڅ ناپوه هم درمل نه کاروی دغه رنګه داحادیثو په کتابو کښي دضعیف حدیث په لیدلو سره په هغه دلیل نیول دهوښیارسړی کا ـ دی ، دریم قسم دادی چی مصنف په خپل کتاب کې موضوعی اوضعیف احادیث راټول کړی وی دمصنف هدف داوی چی ساده اودینداره خلق داحد یثونه غیر معتبروبولی اوپه دې باندی یووخت هم عمل ونه کړی ددې کتاب مثال داسی لکه طبیب چی دپرهیزدشیانو تفصیل ولیکی اوناروغ ته یې ورکړی ددې دپاره چی ثوک په دې خطانه وزی ، ابن جوزی رحمة الله عليه اوداسی نوروموضوعات ټول دهمدې قسم څخه دی ، دمولانامحمد قاسم رحمة الله عليه خبری پای ته ورسیدی) (الاجوة الکاملة)

دغزاګانو اوسریه دلاملوپه اړه که څه روایـ ـوئ ته رسیدلی وی نو هغه یې هم خا مخا راوړی دی خوخپلی رایه اوقیاس ته یې په کښی دخل نه دی ورکړی ددې لپاره چی له روایت سره درایه ګډون رانه سی ، الله ﷻ دی نه کړی که محدثینو حضراتو دارو پا دمؤ رخینو په څیر داسبابو اوعلتونو بحث کولای نودغه روایت به روایت نه وای پاته سوی بلکې ددوئ دخیال اوقیاس دڅیړنو ټولګه به وای ، متأخرینو علماؤ ددغی جمع سوی ذخیری څیړنه اوپلټنه وکړه اودايې موږ ته وښودل چی فلانی روایت صحیح دی

سیف لودین کتابتون

اوفلانی موضوع یعنی له ځانه جوړشوی دی هغه چا چی عیون الاثر اوزادالمعاد او زرقانی شرح مواهب کتابونه مطالعه کړی وی هغه ته به داخبره روښانه سوی وی چی محدثینوخپله څیړنه اوپلټنه، یعنی دحدیثوچڼل ،په هرځای کې یوشان کړی دی خپله څیړنه اوکړه والی یې داحکاموترحدیثوپوری نه دی ځانګړی کړی نن صبادعقل یو بدعت رانبکاره سوی دی ددې په منلو اصل روایت بیخی ختمیږی.. مصنف چی په خپله پوهه سره کومه رایه قائموی هغه درروایت په شکل سره وړاندی کوی حال داچی هغه روایت اوواقعه نه وی بلکې یواځی دده رایه اوخیال وی ، علامه سهیلی اوحافظ ابن قیم اوعلامه زرقانی (رح) دپیښو اوحالاتو څخه پرته ځای ځای اسرار اوحکمتونه لطائف اومعارف هم بیان کړی دی چی په دې کار سره دسیرت خوند نور هم زیات سو دې ناکاره بنده چی ددغه حضراتودعلومومترجم اوخادم دی په خپل دې مختصرسیرت کې چی یواړخ ته دمأخذدصحت اودروایاتومعتبراومستندکیدل پرځان لازم کړی دی نوبل اړخ ته یې درازواوحکمتوهم څه اندازه کوښښ کړی دی چی ان شاء الله العزیز ګټور به وی په دې سیرت کې چی څومره علمی سرمایه اوذخیره تاسووینی داټوله دمحدثینو حضراتودی ، اودوئ ددې مالکان دی داناکاره بنده ددوئ یوکوچنی مریی دی اوکښته درجه خادم دی چی د ده کار یواځی دومره اندازه دی چی ددوئ ملغرو اوجواهراتو ته یې ترتیب ورکړی دی اودعلم دشائقینواورانیونکو مخ ته یې ایښی دی اودکومی زیرمی څخه چی دغه ملغری راټولی سوی دی ورسره ورسره یې هغه لارهم ښودلی ده .

دزرګر کارخودادی چی دجواهرو صندوقونه راوغواړی اود جواهراتو قسمونه بیل بیل اوپه ترتیب سره ایښودل دمزدورانواوخادمانو کاردی همدا وجه ده چی دامامانو او سلفو په علوموکې ترتیب نه وی دجواهروغوندی پاشلی اوبی ترتیبه وی اودمتأخرینوپه کتابو کې بابونه اوترتیب وی لکه څرنګه چی په دې علم کښی محدثین حضرات زموږ استاذان دی اوزموږ اودنبی کریم صلی الله علیه وسلم ترمینځ هم دوئ واسطه دی له دې کبله دمحدثینو داصولو او قواعدو اتباع پرموږ لازمه دی لکه چی الله تعالی فرمایې :

هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا (سورة کهف آیت ٦٦)

له دې امله به په دې کتاب کښی ان شاء الله العزیز په هیڅ ځای کښي دمحدثینو حضراتو له اصولو څخه سرغړونه پیدانه سی ، نه دداسی آباء اواجداء اتباع چی ددی مصداق دی

(قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ (سورة البقرہ آیت ۱۷۰) رښتیا هم ده داسی اباء اوجداء اتباع ډیره بده ده مګر که دچاروحانی یاجسمانی پلرونه او نیکه ګان دعقل اوهدایت خاوندان وی نوبیاددوئ داتباع په ښه والی کی بلکې په ضروری کیدو کې څه خبره کیدای سی ..

په اوس وخت کې که څه هم په نبوی سیرت باندی غټ اوکوچني کتابونه ډیر لیکل سوی دی اولیکل کیږی مګر ددې کتابو مصنفین ډیریې دنوی فلسفی اودارو پادفلاسفه وو څخه دومره په ویره کی دی چی غواړی آیاتونه اوحدیثونه بدل کړی اوپه یو طریقه یې دفلسفی اونوی سائینس سره برابر کړی اوانګریزی ځوانانوته داباورورکړی چی العیاذبالله درسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ قول اوفعل دمغربی تهذیب اواخلاقو اوتمدن اودنن زمانی دفلسفی اوسائینس خلاف نه وو ،همداوجه دی چی کله دمعجزو اوکرامتویادونه راسی نوځومره چی ددوئ توان وی هغه په سیکولر طریقه بیانوی که کوم ځای په راویانووس ورسیږی نودجرح اوتعدیل له لاری په محدثانه رنګ کې دغه روایات دمنلووړبولی اوداسماء الرجال دکتابو څخه دجرح اوتعدیل اقوال رانقل کوی خو دتوثیق اوتعدیل اقوال نه رانقل کوی چی داسراسر دامانت اودیانت خلاف کاردی او د (وَهُدًى لِّلنَّاسِ تَجْعَلُونَهُ قَرَاطِيسَ تُبْدُونَهَا وَتُخْفُونَ كَثِيرًا) ۹۱آیت سورة الانعام) مصداق دی اوکوم ځای چی یې په راویانووس ونه رسیږی هلته په صوفیانه اومحققانه رنګ کښی راځي او د تأویل لاره غوره کوی چی په هغه سره دآیت اوحدیث مفهوم بدل سی ، اوکله چی دالله ﷻ دباغیانوسره دجهاد اوقتال ذکر راسی نوډیر سخت زړه ماتی سی اوودې ته داسلام پرمخ باندی دیوبدرنګه داغ په ویلوسره ددې دپریمنځلوکوښښ کوی داخونه سی کیدای چی دالله عزوجل له دښمنانوسره دجهاد اوقتال دآیاتو څخه انکاروکوی له دې وجهی دتأویل لاره غوره کوی وایې چی داغزاګانی اودفوځ لیږل دالله ﷻ دشان دلوړولواوآسمانی پاچهی دقائمولواوالهی قانون دښکاره جاری کولودپاره نه وی بلکې یوائې دځپل ځان د ساتنی اوخوندی کولواوددښمنانوددفاع لپاره وی . ځواب : موږوایو په قرآن کریم راغلی دی چی مسلمانانوبه منافیقنوته ویل (وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا (سورة آل عمران آیت ۱۶۷) ژباړه : راشی دالله ﷻ په لاره کښي جهادوکوی یایوائې ددښمنانو ددفاع لپاره وجنګیږی ..

سیف لودین کتابتون

له دې څخه معلومه سوه چې جهاد فی سبیل الله بیل دی او ددښمنانو ددفاع لپاره جګړه کول بیل دی اوپه دفاع کې مؤمن اومنافق دواړه برابردی مؤمن دالله ﷻ دپاره جنګیږی اومنافق یواځی دخپل ځان دخوندی ساتلواوله دښمن څخه ددفاع په وجه جنګیږی که دجهاد حقیقت یواځی دفاع وی نوپه قرآن کریم اواحادیثوکې به دجهاد دترغیب هیڅ اړتیانه وو ددښمن دفاع خولازمی اوواجب عقلی اوفطری شئ دی دهیڅ هوښیار په دې کې اختلاف نسته آیادخلفاء راشدینو ﷺ ټول جنګونه دفاعی وو ؟ په هغوکې هیڅ جهاداقدامی نه وو ؟

له دې کبله دې ناکاره بنده دا هوډوکړ چې په سیرت کې یوداسی کتاب ولیکی چې په هغه کې که یوی خواته دغیر مستنداونامعتبر روایتونو څخه پرهیزسوی دی نوبل لوری ته نه دئ له کوم ډاکټر یافیلسوف څخه ویریږی اونه کوم روایت پټوی اونه په حدیث کې ددوئ له ویری څه تأویل کوی اونه ددغه حدیث دغیر معتبرکیدو دپاره په راویانو باندی دجرح کوښ کوی ددې بیچاره مسلک خوهغه دی کوم یې چې ستاسوپه مخکې وړاندی کړ فاش می گویم واز گفته خود دل شادم .... بندهٔ عشقم واز هر دو جهان آزادم

دجهاد ، اوغلامی ، اوجزیه په مسئلو کې مثلاً دالله ﷻ دباغیانو شور اوغوغا اود پردی په مسئله کې دشهوت پرستانوسوالونه زماپه نزد همداددې مسئلو دحق کیدو اوعین حق کیدو دلیل دی ... واذاأتتک مذمتی من ناقصٍ .... فهی الشهادة لی بانی کامل

ژباړه : کله چې تاته دیوناپوه اوکم عقل له لوری زمابدی واورول سی ..

نوهمدازما دکامل کیدو اوښتینوالی دلیل دی .

که څرنګه چې دناپوهانوسوالونه دیوشئ دمعقول کیدو دلیل دی همدارنګه دباطل پرستوډیموکراسانوآزادخیالوګوت نیونی دحقاینت دلیل دی ..

کله چې ته پیغمبر صلی الله علیه وسلم (زمانفس اومور پلار ټول دی پرده قربان سی) دالله ﷻ دراليږلی سوی استازی په حیث منی اوپه ټولوخبرو ،اوکارواوټولوحرکاتو سکناتوکې مبارک ﷺ معصوم اودالله ﷻ له لوری تائیدسوی بنده بولی نوبیادده مبارک ﷺ دخبری له اوریدلووروسته و ډاکټر یاساینس دان ته ولی ګوری اوددوئ له ویری په آیاتو اواحادیثوکې تأویل ولی کوی. ﴿فَوَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ﴾ ١١آیت سورة الطور) ﴿فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ﴾ ٥٠آیت سورة المرسلات) فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ فَأَنَّى تُصْرَفُونَ﴾ ٣٢آیت سورة یونس)

سیف لودین کتابتون

نخواہم جز تو یک ساعت تفکر در دگر کردن............................. کہ در ہر دو جہان جانان ندارم جز تو دلداری

هو داحق ستاسو ضرور سته چې له عمل کولو مخکې ددغه روایت ښه تحقیق وکوی چې صحیح دی یاغلط دی خو شرط دادی چې مقصد به د حق منل وی نه له حق څخه مخ اړول او ځان ځنې کښل (وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ)۲۲۰آیت سورة البقرة)

اوس زه تمهید ختموم دې دپاره چې اصل مقصد پيل کړم اوله الله تعالی څخه دادعاغواړم چې اې ددواړو جهانو پالونکي خدایه ته داکوچنۍ خذمت قبول وګرزوی اوزماپه حق کښې داصدقه جاریه اودآخرت توښه وګرزوی

گرچہ ہدیہ مرا نا قبل منظور ہی............... ہر جو ہو مقبول کیا رحمت سی تیری دور ہی

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّکَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ وَتُبْ عَلَيْنَا اِنَّکَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ ، آمِین ثم آمین .

اواې ددواړو جهانو پالونکي خدایه په هغه چاهم رحم وکوی چې په دې دُعا آمین ووایې په پټه آمین ووایې اوکه په ښکاره اودهغه چابخښنه وکوی چې لاس پورته کړی اودې ناکاره بنده ته دبخښنې دعاوکوی اوسورة فاتحه اولږترلږه دوه درې آیتونه څومره چې آسان وی ووایې اوماته یې ثواب راوبخښي (((اودکاتب حمدالله هم همداغوښتنه ده چې ګنهګاربنده هم په دعاکې ورسره یادکړی الله عَزَّوَجَلَّ دې دحشرپه ورځ درسول الله ﷺ شفاعت درنصیب کې))))

سُبْحَانَ رَبِّکَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ خَاتَمِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَعَلَى آلِهِ وَاَصْحَابِهِ وَاَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّاتِهِ اَجْمَعِيْنَ بِرَحْمَتِکَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ، آمين ثم آمين ..

سیف لودین کتابتون

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دپاک نسب پاکه لړۍ

الله رب العزت فرمایي ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ﴾ ١٢٨آیت سورة التوبه)

عن انس ؓ قال قرأ رسول الله صلی الله لقد جاء کم رسول من أَنْفَسِكُمْ بفتح الفاء وقال انا أَنْفَسُكُمْ نسبًا وصهرا وحسبا لیس فی آبائی من لدن آدم سفاح کلنا نکاح . رواه ابن مردویه (١)

ژباړه : له انس ؓ څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ داآیت یعنی لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنْفَسِكُمْ دفاء په زور سره ویل چی ددې معنی دادی چی بیشکه راغلی تاسوته دالله ﷻ رسول ﷺ چی په تاسو کې اشرف اوافضل دی اوترهر چا دډیری معتبری کورنۍ څخه دی له دې وروسته نبی کریم ﷺ وفرمایل چی زه دنسب په اعتبار سره ترتاسوټولو افضل اوغوره یم زماپه پلرونواونیکه ګانوکې دآدم ؑ څخه بیا تراوسه پوری په دې ټوله سلسله دنسب کې زنانسته ټولونکاح کړی ده

ابن عباس ؓ اوزهری رحمة الله علیه به هم مِنْ أَنْفَسِكُمْ دفاء په زور سره ویل اوپه من افضلکم اواشرفکم سره به یې ددې تفسیر کوی چی ودې ته موږ په خپله ترجمه کې اشاره کړی ده دآدم ؑ څخه رواوآخله بیادده مبارک ﷺ ترمور اوپلار پوری چی څومره پلرونه اونیکه ګان اومیندی اوآناګانی دنسب په کړۍ کښی راغلی دی هغه ټوله محصنین اومحصنات دی یعنی ټول پاکیزه اوپاک لمني وو هیڅ یو په دوئ کې په زِنا نه دی بدنامه سوی (٢)

عبادمخلصین چی دوئ الله ﷻ دنبوت اورسالت لپاره چاڼ کړی وو دهغوئ دنسب سلسله وګوری ټوله پاک اوپاک لمني دی الله تعالی تل داسی کړی دی چی ددوئ له پاکو ملاګانو څخه دمورانو وپاکورحموته پاک اوسپیڅلی نقل کړی دی الله رب العزت چی څوک خپل مصطفی.اومجتبی جوړوی دهغه دپاک جوړولواوغوره والی تر مخه دهغه نسب خامخا پاک اوغوره ، مهذب ،صفا ، مصطفین الاخیار ، دالله دچاڼ کړیو ، اوخوښوبندګانوڅخه وی له کوم شئ سره چی څومره اندازه اړیکی وی په هغه کچه په هغه کې پاکوالی اوغوره والی اوخوښوالی سرایت کوی څه وخت چی منافقینو دمؤمنانو په مور عائشه صدیقه ؓ باندی تورپوری کړ نوالله رب العزت دعائشه صدیقه ؓ دپاک والی اوبرائت په اړه دسورت نور لس آیتونه نازل کړه په هغو کې یوآیت داهم دی(وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَا أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبْحَانَكَ هَٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ (سورة النور آیت ١٦)

ژباړه : تاسوولی له اوریدلوسره سم داسی ونه ویل چی سبحان الله داڅومره لوی بهتان دی موږ په دې کې خبری نه سو کولای ..

---

(١)زرقانی شرح مواهب جلد اول ١/ صفحه نمبر ٢٧)

(٢)دادیوحدیث مضمون دی چی طبرانی دعلی ؓ څخه مرفوعاً روایت کړی دی حافظ هیثمی رحمه الله فرمایي چی ددې سند ټول راویان ثقات دی یوازې په یوه راوی کې څه خبری سته دهغه توثیق بیا حاکم کړی دی(زرقانی جلد ٢٧ ١)

سیف لودین کتابتون

يعنى اې مسلمانانو دذې دروغو په اوريدلو سره سم تاسو ته داوينا په كار وه چې سبحان الله داخو ډير لوی دروغ دی مور الله ﷻ ته پناه وروړو آيا دپيغمبر ﷺ بی بی ؓ هم بدكاره كيدای سی دپيغمبر ﷺ بی بی ؓ خويوائې اويوائوی پاكه اوپاک لمنه وی ..

ابن منذر له ابن عباس ؓ ځخه روايت كړی دی (مابغت امرأة نبی قط) دهيڅ يوه پيغمبر ؑ ښځی هيڅ كله هم زِنا نه ده كړی ابن جريج ؒ فرمايې دپيغمبرې له شان سره داخبره مناسبه نه ده چې دپيغمبر ؑ ښځه دی په بدكاری كې اخته وی ،،

اوابن عساكر له اشرس خراسانی ؓ ځخه مرفوعاً روايت كړی دی چې نبی كريم ﷺ وفرمايل : چې دهيڅ يوه پيغمبر ؑ بی بی هيڅ كله هم زِنا نه ده كړی ،، اوحافظ ابن كثير ؒ په خپل تفسير كې دابن عباس ؓ ددې روايت (مابغت امرأة نبی قط) له راوړلووروسته فرمايې داروايت له عكرمه اوسعيدبن جبير اوضحاک اوداسی نورو ځخه هم نقل سوی دی (١)

هركله چې دپيغمبرانو ؑ دبيبيانو بدكاره كيدل دنبوت له مرتبې سره ضد دی نودانبياء اورسولانو ؑ دمورانو اوانا گانو بدكاری خودنبوت اورسالت له مرتبې سره په طريقه اولی سره منافی دی ځكه چې دمور علاقه دميړه ترعلاقی ډيره زياته قوی وی داهيڅ وخت هم نه سی كيدای چې معاذالله ثم معاذالله دپيغمبر پيدا ايښت اوصورت دی دفسق اوفجور يعنی زِنا ځخه وی له دې امله په حديث كې ولد زنا ته په درې بدو كسانو كې هغه بدترين سړی ويل سوی دی ځكه چې دده وجود له گناه اوفسق اوفجور ځخه رامنځ ته سوی دی دابيخی نه سی كيدای چې دالله ﷻ راليږل سوی استازی دی له گناه اوفسق اوفجور ځخه وی

له آدم ؑ ځخه بيا ترنبی كريم ﷺ پورې چې ځومره ابيناء ؑ اورسولان دی هيڅ گوت نيونكې ددوئ پرپاک نسب گوت نيونه نه ده كړی يوائې يهودو دالله تعالی لعنت دی وی پردوئ باندی په دنيااوآخرت كې) دعيسی ؑ په پاک لمنی مور بی بی مريم عليها السلام باندی تور پورې كړ الله ﷻ په خپل كتاب كې په ډير تفصيل سره دحضرت مريم عليها السلام دپاكۍ اودعيسی ؑ دنيک بخته زوكړی كيفيت بيان كړی اوځای ځای يې په يهود و باندی لعنت هم ويلی دی ..

له دې ځخه ښكاره معلوميږی چې دغيرت مند ذات غيرت ديو گړي دپاره هم داخبره نه قبلوی چې يوخبيث دی دالله ﷻ دراليږلی سوی پيغمبر ؑ په پاک نسب كې يوقسم شک اوتردد واچوی .

---

(١)زرقانی صفحه ٦٧جلد ١درمنثورجلد ٦صفحه ١٤٥)
(٢) [illegible]

دروم باچا قیصر چی کله له ابوسفیان څخه دنبی کریم ﷺ دنسب په اړه پوښتنه وکړه او ورته وې ویل (کیف نسبه فیکم) څنګه دی دده نسب په تاسو کې ، دصحیح بخاری الفاظ داسی دی چی ابوسفیان داسی ځواب ورکړچی (هوفینا ذونسب) نوموړی په موږ کې دغوره نسب خاوند دی ، حافظ عسقلانی رحمة الله علیه فرمایې چی دبزار په روایت کې داالفاظ دی (هو فی حسب مالا یفضل علیه احد قال هذه آیت . فتح الباری(۱) کتاب التفسیر (۲)
یعنی په کورنۍ ، نسب ، اوعزت کې ترده څوک غوره اولوړنسته ،
دروم پاچاقیصر وویل داهم دنبوت نښه ده یعنی دپیغمبری یوه نښه دادی چی دهغه علیه السلام کورنۍ به ترټولو لوړه اوعزتمنده وی د صحیح بخاری په روایت کې داالفاظ دی چی قیصر دروم پاچا دابوسفیان دځواب په اوریدلوسره وویل (وکذلک الرسل تبعث فی احساب قومها(۲) ژباړه : پیغمبر علیه السلام همیشه له عزت مندی کورنۍ څخه وی ، زموږ دنبی کریم ﷺ حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وآله وصحبه وبارک وسلم دنسب لړۍ چی دنړۍ دټولو انسابوترسلسله لوړه اوترټولو افضله اوغوره دی داسی دی موږبه یې لاندی درته بیان کړو دغه دسروزرو سلسله اودنسب شجره داده :
سیدنا ومولانا محمد ﷺ بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف بن قصی بن کلاب بن مرة بن کعب بن لوئ بن غالب بن فهر بن مالک بن نضر بن کنانة بن خزیمه بن مدرکه بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان (بخاری شریف باب مبعث النبی صلی الله علیه وسلم حافظ عسقلانی رحمة الله علیه فرمایې چی امام بخاری رحمه الله په خپل جامع کتاب صحیح البخاری کې دنسب شریف سلسله یوائې ترعدنان پوری ذکر کړی مګر په خپل تاریخ کې یې ترابراهیم علیه السلام پوری دنسب سلسله ذکر کړی ده هغه دادی : عدنان بن أدد المقوم بن تارج بن یشجب بن یعرب بن ثابت بن اسماعیل بن ابراهیم علیه الصلوة والسلام (۴)
ترعدنان پوری دنسب سلسله دټولو نسب پوهانو په نزد منلی سوی ده دهیچاپه کښې اختلاف نسته اودغه رنګه داسماعیل علیه السلام داولادڅخه دعدنان کیدل هم دټولوپه نزد منلی سوی خبره دی (۵) اختلاف په دې کې دی چی له عدنان څخه تر اسماعیل علیه السلام پوری

---

(۱) دکتاب التفسیر حواله ورکړل سوی ځکه چی حافظ عسقلانی دبزار داروایت یوائې په همدی ځای کې ذکر کړی دی په بدء الوحی کتاب الجهاد اونورو کې یې نه دی ذکر کړی
(۲) فتح الباری طبع مصر جلد ۸ صفحه ۱۶۳)
(۳) بخاری شریف جلد اول)
(۴) فتح الباری جلد (۷) صفحه نمبر ۱۲۵)
(۵) زادالمعاد جلد ۱ صفحه ۱۵۰)

سیف لودین کتابتون

ځو تبرونه دی ځینی وایې دیرش دی او ځینی وایې څلویښت دی والله اعلم وعلمه اتم واحکم
له عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ چی به کله د نسب شریف سلسله بیان کوله نو تر عدنان به نه تیریدی تر عدنان پوری به چی ورسیدی نو داسی به یې فرمایل (کذب النسابون) یعنی نسب بیانونکو دروغ ویلی دی یعنی دوئ د نسب په سلسله کې تحقیق نه دی کړی څه چی وایې هغه بی تحقیقه وایې ،
عبدالله ابن مسعود رضی الله عنهما به اول داآیت مبارک ووایو : وَعَادٍ وَثَمُودَ وَالَّذِينَ مِن بَعْدِهِمْ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ (سورة ابراهيم آيت ۹) (۱) ژباړه : عادیان او ثمودیان او د دوئ څخه وروسته چی کوم قومونه دی د دوئ علم یوازې الله ﷻ لره دی بل هیچا ته نسته ....
او بیا به یې فرمایل : کذب النسابون : نسب پیژندنکو درواغ ویلی دی ، یعنی د نسب پیژندنکو دا دعوی چی موږ ته د ټولو نسبونو معلومات شته بیخی غلطه خبره ده له الله ﷻ څخ پرته بل هیڅوک نه دی په خبر طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۲۸) علامه سهیلی رحمة الله علیه فرمایې چی امام مالک رحمة الله علیه څخه چاپوښتنه وکړه چی یو سړی خپله سلسله نسب آدم علیه السلام ته رسوی دا څرنګه دی ؟ نو هغه دا خبره ښه ونه ګڼله ، پوښتونکي بیا پوښتنه وکړه چی څوک یې تر اسماعیل علیه السلام پوری د نسب لړی رسوی ددې په اړه تاسو څه وایاست ؟ نو هغه دا خبره هم خوښه نه کړه او وې فرمایل : من یخبره به (۲) چا ددې خبر ورکړی دی

د نبی کریم ﷺ د مور د پاک نسب پاکه لړی

تیره د نسب سلسله د هغه مبارک ﷺ د پلار له طرفه وه د مور له طرفه د نسب لړی داسی دی
محمّد : بن آمنه بنت وهب بن عبدمناف بن زهرة بن مرة (۳) بن کلاب پر کلاب باندی د مور او پلار د نسب سلسله دواړه یو ځای کیږی
عدنان : عدنان د قیدار بن اسماعیل علیه السلام د اولاد څخه دی ابو جعفر بن حبیب په خپل تاریخ کې روایت کوی چی ابن عباس رضی الله عنه به ویل چی عدنان او معد او ربیعه او خزیمه او اسد دا ټول په ملت ابراهیمی باندی وو د دوئ یادونه په خیر او نیکی سره کوي ، او زبیر بن بکار مرفوعاً روایت کوی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چی مضر او ربیعه ته بد مه وایاست ځکه دوئ پر اسلام باندی وو او د سعید بن المسیب یو مرسل روایت هم ددی تائید کوی (۴)

---

(۱) الطبقات الکبری لابن سعد جلد ۱ صفحه ۲۸]
(۲) روض الانف جلد ۱ صفحه ۱۱ طبع مصر د چاپ کال ۱۳۳۳ هجری مطابق ۱۹۱۴ میلادی)
(۳) الطبقات الکبری لابن سعد جلد ۱ صحفه ۳۱)

سیف لودین کتابتون

معد؛ دمیم په زور او ددال په شد سره دی له عدد څخه جوړ دی ځینی وایې معد په معنی دفساد کولو دی په هغه مناسبت ورته وایې ځکه نوموړی دلاور او جګړه مار سړی وو ټول ژوندیې له بنی اسرائیلو سره په جګړو او مقابلو کې تیر کړی دی او په هرجنګ کې به کامیاب او کټونکی وو دده کُنیه ابو نزار وو (۱)

امام طبرانی وایې چی معد بن عدنان دبخت نصر په وخت کښې دوولس کلن وو دهغه وخت پیغمبر ارمیاء بن حلقیاء علیه السلام ته دالله جل جلاله له لوری وحی نازله سوه چی بخت نصر ته خبر ورکړه چی موږ تاپه عربو باندی مسلط کوو او ته معد بن عدنان پرخپل براق باندی سپور کړه هسی نه چی معد ته څه زیان ورسیږی ځکه (فانی مستخرج من صلبه نبیاکریما اختم به الرسل) ژباړه: ځکه چی زه دمعد له ملا څخه یو عزت مند پیغمبر علیه السلام پیدا کوم او په هغه سره به دنبوت سلسله هم پای ته ورسیږی،،

له دې کبله حضرت ارمیاء علیه السلام معدبن عدنان له خپل ځان سره پرآس باندی سپور کړ او د شام هیواد ته یې بوتلی هلته له رسیدو سره سم معد په بنی اسرائیلو کې میشت سو او هم هلته لوی سو (کذافی الروض للسهیلی جلد ۱ صفحه ۸)

له دې کبله داهل کتاب دعلماء په نزدهم دمعدبن عدنان نسب ډیر مشهور دی ابن سعد په طبقات کې دابویعقوب مُری څخه نقل کړی دی چی بورخ بن ناریا چی دارمیاء علیه السلام کاتب او منشی وو دمعدبن عدنان کوم نسب بیان کړی دی هغه له ماسره محفوظ دی (طبقات الکبری صحفه ۲۸ جلد ۱)

نزار: نزاردنزر څخه جوړ دی چی ددې معنی ده لږ، ابوفرج اصفهانی لیکی نزار لکه څرنګه چی دخپلی زمانی یواځنی سړی وو دده په څیر خلک ډیر لږ وو له دې کبله ورته نزار ویل کیدل (فتح الباری صحفه ۱۲۵ جلد ۷)

علامه سهیلی رحمة الله علیه فرمایې څه وخت چی نزار پیدا سو نو دده تندي په محمدی رڼا ځلید ی پلار چی ولیدی ډیر زیات خوشحاله سو او په دې خوشالی کې یې میلمستیا وکوله او دایې وویل (هذاکله نزر لحق هذا المولود فسمی نزارا لذلک (۲)

ژباړه: دا هر څه ددې کوچني دحق په بدله کې ډیر لږ دی له دې کبله دده نوم نزار کیښودل سو، او په تاریخ الخمیس کې دی (انه خرج اجمل اهل زمانه واکبرهم عقلا) ژباړه: نزار دخپل وخت تر ټولو ښائسته او دتر ټولو هوښیار وختی، او یو شمیر نوربیا وایې چی دنزار معنی دی: وچ، کلک، اونری، لکه څرنګه چی نزار وچ کلک اونری وو نو ځکه یې نزار نوم پر کیښودی، مدینی منوری ته نژدی په ذات الجیش مقام کې دده قبر دی (۳)

---

(۱) زرقانی جلد ۱ صفحه ۷۹
(۲) روض الانف جلد ۱ صفحه ۸) —— (۳) زرقانی جلد ۱ صفحه ۸۹)

سیف لودین کتابتون

مُضَر: دمضر اصلی نوم عمرو وو ابوالیاس دده کُنیه وو مُضر دده لقب دی مضر دماضر څخه جوړدی چی معنی یې ده تریووالی ، تروه شیان اومستی دده ډیری خوښی وی نو ځکه دمضر په نامه سره مشهور سو (۱)

مضر ډیر پوه اوهوښیار سړی وو دمضر دحکمت په خبرو کې راغلی نوموړی وایې

(من یزرع شراً یحصد ندامةً وخیر الخیر اعجله فاحملوا انفسکم علی مکروهها واصرفوها عن هواها فلیس بین الصلاح والفساد الا الصبر (۲)

ژباړه : څوک چی شر خوښوی پښېمانتیا به ریبی اوډیره ښیګڼه هغه ده چی ژر وکړله سی نوخپل ځانونه په ناخوښه شیانو واړوی اوخپل ځانونه دنفس دغوښتنو څخه وساتي دنیکۍ اوبدۍ ترمینځ دصبر څخه پرته بل بیلونکي شئ نسته ......

مضر ډیر زیات خوش آوازه وو دتګ په وخت کې واوښانوته حُدی ویل هم ده رواج کړی دی (روض الانف صفحه جلد ۱ /ص /۸)

ابن سعد به طبقات کې دعبدالله بن خالد څخه مرسلاً روایت کړی دی وایې چی رسول الله صلی الله وفرمایل مُضرته بدمه وایاست ځکه هغه مسلمان وو (۳)

ابن حبیب په خپل تاریخ کې دابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کوی چی عدنان اودده پلار اودده زامن سعد اوربیعه اومضر اوقیسر اوتمیم اواسد اوضبّه پردین ابراهیمی باندی مړه سوی دی (۴)

الیاس بیت الله شریف ته دهدیه لیږلو طریقه ترټولو مخکې الیاس بن مُضر جاری کړه ویل کیږی چی الیاس بن مُضر به دخپل شاطرف ته دنبی صلی الله علیه وسلم دحج تلبیه اوریدله داهم ویل کیږی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الیاس ته بدمه ویاست ځکه هغه مؤمن وو (۵)

علامه زرقانی رحمة الله علیه فرمایې چی ماته ددې حدیث حال معلوم نه سو چی دادکومی درجی حدیث دی (۶)

---

(۱) فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۲۵

(۲) زرقانی جلد ۱ صفحه ۷۹)

(۳) الطبقات الکبری لابن سعد جلد ۱ صفحه ۳۰)

(۴) دابن عباس داروایت حافظ ابن حجر عسقلانی په باب المناقب کې په داسی طریقه سره بیان کړی اوپه باب مبعث النبی صلی الله علیه وسلم کې اجمالاً اوکوتاه بیان کړی لکه چی موږ لږ مخکې داروایت رانقل کړی

(۵) فتح الباری جلد ۶ صفحه ۲۸۴)

سیف لودین کتابتون

(**مُدْرَكَه**) دجمهور علماؤ وينا دادی چی دمدرکه نوم عمرو وو ، محمدبن اسحاق وايې دده نوم عامر وو اومدرکه دده لقب دی چی له ادراک څخه جوړدی لکه څرنګه چی هررنګه عزت اولوړوالی يې پيدا کړی وو نوځکه مدرکه لقب ورکړل سو (١)

(**خُزيمة**)بن عباس رضي الله عنهما فرمايې خُزيمه په ابراهيمی دين باندی مړسوی دی (٢)

(**كِنَانَة**) په عربوکې دلويې مرتبې خاوند بلل کيږی دده دعلم اولوړوالی په وجه به دده دملاقات لپاره خلک له ليری ځايو څخه وده ته راتلل (٣)

(**نَضَر**) نضر دنضارت څخه جوړدی چی دده معنی دی : تر اوتازه ، دډير ښائست په وجه دده ته نضر ويل کيدل اصل نوم يې قيس وو (۴)

(**مَالِك**) اصلی نوم يې مالک اوکُنيه يې ابوالحارث دی دعربوپه لويولويو سردارانو کښې شميرل کيږی (۵)

(**فِهْر**) دده اصلی نوم فِهر وو قريش يې لقب دی ځينی بيا وايې خپل نوم يې قريش او فهر يې لقب دی دده واولادوته قريش ويل کيږی اوکوم سړی چی دفهر په اولادکښې نه وی هغه ته کنانی وايې اوځينی علماء بيا وايې چی قريش دنضر بن کنانة داولادنوم دی حافظ عراقی په خپله الفيه دسيرت کې فرمايې :

(**اماقريش فالاصح فهر جما والاكثرون النضر**)

حافظ علائي فرمايې چی همدا خبره صحيح دی اودمحقيقينو خبره دی چی قريش دنضر بن کنانة اولادته وايې ، اوځينی مرفوع حديثونه هم ددې تائيد کوی داامام شافعی رحمة الله عليه څخه هم همداسی وايې چی قريش دنضر بن کنانه داولادنوم دی يوشمير حفاظ حديث فرمايې : چی دفِهرد پلار مالک له فِهر پرته بل هيڅ اولادنه دی پاته سوی له دې کبله ويل کيږی چی څوک دفهر په اولادکې وی هغه دنضر په اولادوکې هم دی له دې کبله د قريش په تعين کې چی کومی مختلفی خبری دی هغه دالله تعالی په فضل سره متفقی سوی

(١) فتح الباری جلد ٧ صفحه ١٢٥
(٢) زرقانی جلد ١ صفحه ٧٨
(٣) مخکې حواله
(۴) فتح الباری جلد ٧ صفحه ١٢۴ زرقانی جلد ١ صفحه ٧٧
(۵) مخکې حواله صفحه ٧٦

سیف لودین کتابتون

دقریش نوم ایښودلو وجه :

قریش دیوه سمندری حیوان نوم دی چی دخپل قوت اوزور په وجه پرټولو حیوناتو باندی زورور دی کوم حیوان چی دده زړه و غواړی خوری یه خودئ بل حیوان نه سی خوړلای : اودغه رنګه قریش هم دخپلې زړورتیا په وجه پرټولوخلکو زورور اوزړور ورتلی هیچا د ته ماته نه سوه ورکولای ځکه ورته قریش وویل سو ،

ابن نجار په خپل تاریخ کې روایت نقل کړی وایې چی یوه ورځ ابن عباس رضی الله عنهما ومعاویه رضی الله عنه ته راغلی او عمرو بن العاص رضی الله عنه هم ناست وو عمرو بن العاص رضی الله عنه دابن عباس رضی الله عنه خواته وکتل اوورته وې ویل چی دقریشو دافکردی چی ته په قریشو کې ترټولولوی عالم یې نوته دقریش دنوم ایښودلووجه راته بیان کړه چی قریش ته قریش والی وایې ؟

ابن عباس رضی الله عنهما ورته دغه مخکې وجه وویله دقریش دنوم ایښودلوچی موږ مخکې ذکر کړه عمرو بن العاص رضی الله عنه وفرمایل :که په دې اړه دی کوم یوشعر یادوی هغه خوراته ووایه ؟ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل چی شموخ بن عمرو حمیدی وایې :

(وَقُرَيْشٌ هِيَ الَّتِي تَسْكُنُ الْبَحْرَ بِهَا سُمِّيَتْ قُرَيْشٌ قُرَيْشًا)

ژباړه : قریش یوسمندری حیوان دی چی په سیند کې اوسیږی دده په نامه باندی دقریشو دقبیلې نوم قریش ایښودل سو ی دی ...

تَأْكُلُ الْغَثَّ وَالسَّمِينَ وَلَا تَتْرُكُ لِذِي الْجَنَاحَيْنِ رِيشًا

دغه حیوان غټ اوچاغ حیوانان خوری اوهیڅ وزر درلودنکی حیوان ته وزر نه پرېږدی ،،

هَكَذَا فِي الْبِلَادِ حَيُّ قُرَيْشٍ يَأْكُلُونَ الْبِلَادَ أَكْلًا كَمِيشًا

ژباړه : همدغه شان دقریشو قبیله ښارونه په تیزۍ سره خوری

وَلَهُمْ آخِرُ الزَّمَانِ نَبِيٌّ يُكْثِرُ الْقَتْلَ فِيهِمْ وَالْخُمُوشَا

ژباړه : اودقریشو په همدی قبیله کې به په آخره زمانه کښی یو پیغمبر راښکاره کیږی چی دالله نافرمانی کونکي خلک به ډیر زیات وژنی اوزخمی کوی به یې (۱)

حافظ بدرالدین عینی رحمه الله علیه قریشوته دقریش ویلو پنځلس وجه بیان کړی دی که ددې تفصیل ځوک غواړی نوعمدة القاری شرح صحیح البخاری صفحه ۴۸۶جلد ۷ باب مناقب قریش ته دې رجوع وکوی

(۱) زرقانی جلد ۱ صفحه ۷۵ اوداشعرونه په فتح الباری جلد ۶ صفحه ۳۸۸ کښي دقریشو په مناقبو کې هم ذکر دی

سیف لودین کتابتون

(**کعب**) دجمعی په ورځ درایوځای کیدو طریقه ترټولو لومړی کعب بن لوی جاري کړه کعب بن لوی به دجمعی په ورځ خلک رایوځای کړل او خطبه به یې ورته وویله، لومړی به یې دالله تعالی حمد اوثنابیان کړه چی اسمان اوځمکه لمر او سپوږمۍ داټول شیان الله ﷻ پیداکړي دی اوبیابه یې نصیحت وکی دصله رحمۍ ترغیب به یې ورکوی اودابه یې فرمایل: چی زما په اولادوکې یو پیغمبر پیداکیدونکی دي که تاسو دهغه وخت و مو ند ی نوخامخا دهغه پیروی وکوی اوداشعربه یې ولوستی:

یَالیتنی شاهدٌ فَحوا دَعْوَتِهِ اذا قُرَیْشٌ تَبْغیَ الحقَّ خُذلانه

ژباړه: کاشکې زه هم دهغه دبلنی داعلانولو په وخت کې حاضروای کوم وخت چی قریش له هغه سره دکومک اومرستی څخه لاس واخلی)

فراء اوثعلبی وایې چی تردې مخکې به دجمعی ورځ ته یوم العروبه ویل کیده ترټولو مخکې کعب بن لوی ددې ورځی نوم جُمعه کیښودی حافظ ابن کثیر هم په خپل تاریخ کې دکعب بن لوی خطبه بیان کړی ده (١)

(**مُرّة**) مرة دمرارت څخه جوړ دی معنی تریخوالی کوم سړی چی به زړور اودلاوره وو عربوبه هغه ترمُرّه ویل معنی دئ دخپلو دښمنانولپاره ډیر تریخ دی اوپه مرة کې تاء د تانیث دپاره نه دی بلکې دمبالغی دپاره دی یعنی ډیر تریخ، ابوبکرصدیق رضی الله عنه اوطلحه رضی الله عنه هم دده له اولادڅخه دی (٢)

(**کلَاب**): کلاب دکلب جمع دی، له ابوالرقیش اعرابی څخه چاپوښتنه وکړه چی ددې څه وجَه ده چی تاسوپرخپل اولادو کلب (سپی) ذئب (لیوه) دانومونه باندی ایږدی اوپرخپلو مریانو، مرزوق (روزی ورکړل سوی)، رباح (گټه کونکي) دارنگه ښه نومه ایږدی؟

ابوالرقیش اعرابی په ځواب کې ورته وویل چی دزامنونومونه ددښمنانو دپاره ایږدو اودمریانو نومونه دخپل ځان دپاره ایږدو یعنی مریان خودخپل خذمت دپاره ساتل کیږی داسی نه دی لکه زامن ځکه هغوئ به دخپلوسینوڅخه ډالونه جوړوی اوله دښمنانوسره به جنگیږی له دې کبله ددوئ لپاره داسی نمونه غوره کوو چی دښمنان ددوئ دنمونوپه اوریدلوسره هم ویریږی، دکلاب خپل نوم حکیم یاعروه یامهذب وو دئ د ښکار کولوډیر شوقی وو ښکاري سپي به یې ساتل نوځکه په کلاب مشهورسو (٣)

---

(١) زرقانی جلد ١ صفحه ٧۴ همدارنگه البدایه والنهایه جلد ٢ صفحه ٢۴۴)
(٢) زرقانی جلد ١ صفحه ٧۴)
(٣) فتح الباری جلد ٧ صفحه ١٢۴)

سیف لودین کتابتون

(قُصی) : دقصی اصلی نوم مجمع وو چی له جمع څخه جوړدی معنی یوځای کیدل .
قصی دقریشو بیلابیلی قبیلی رایوځای کړی نوځکه ورته مجمع وایې قریش په لومړی سرکې سره بیل وو یوځای نه وو آباد څوک په غروکې اوسیدل او څوک په صحراکې څوک په آبادوځمکوکې وواوڅوک په پراخومیدانواو غاروکې اوسیدل قصی ټول قریش دمکی په لمنو کې میشت کړه اوټولوته یې داستوګنی لپاره بیل بیل ځایونه ورکړل اوټول یې آبادۍ ته راوستل له هم هغه وخت وده ته مجمع وویل سو ځکه چی ده ټول قریش سره یوځای کړل لکه یوشاعر چی وایې :

(اَبُوکُمْ قُصَیٌّ کَانَ یُدْعَی مُجَمِّعًا .... بِهٖ جَمَّعَ اللهُ الْقَبَائِلَ مِنْ فِهْرِ

امام احمدابن حنبل رَحمَۃُاللہِ عَلَیہِ له امام شافعی رَحمَۃُاللہِ عَلَیہِ په حواله وایې چی دقصی اصلی نوم زیر وو (۱)قصی ډیر پوه اوهوښیار سړی وو دده دهوښیارتیا په خبرو کې داخبری هم رانقل سوی دی: څوک چی دکمینه اورزیل سړی عزت کوی دی هم دهغه په کمینه توب کې له هغه سره شریک دی ، اوڅوک چی دخپلی مرتبی څخه زیاته غوښتنه کوی هغه دبی برخه کیدو وړ دی ، اوکین سخت دښمن دی ، نوموړی دمرګ په وخت کې خپلوزامنوته دانصیحت وکوی : اجتنبوا الخمر فانها تصلح الابدان وتفسد الاذهان

(کذافی سیرة النبویة لزینی رحمه الله مفتی مکة المکرمة صفحه ۸ جلد ۱)

ژباړه :دشرابو له څښلو څخه ځان وساتی ځکه شراب بدن جوړوی خوذهن خرابوی .
په عربوکې قصی ځانګړی واک درلودی ټول خلک دده دخبری اوریدونکي اوفرمان منونکي وو قصی ددارالندوه په نوم دمشوری لپاره یوځای وټاکي چی په هغه کې به دټولو ضروری خبرومشوره کیدله، دنکاح ، اوخوشالۍ ، اوجنګ جګړوپه اړه به هم په همدې ځای کې مشوره کیدله دتجارت لپاره به چی کومه قافله روانیدله لومړی به دارالندوه ته راتلل ګواکی دارالندوه دعربو دحکومت پلازمینه اوپارلمان وو حجابت ، اوسقایت ، اورفادت اوندوه اوبیرغ ددې ټولو منصبونو علمبردار یوازې قصی اودټولو اهموکاروذمه قصی ووله ده وروسته دامنصبونه اومرتبی پرمختلفو قبیلوباندی وویشل سوی (۲) له دی ماپرته دقریشونور منصبونه هم وو لکه حافظ عینی چی په عمدة القاری شرح بخاری باب مناقب قریش جلد ۷ صفحه ۴۸۶ کې په کوتاه ډول راوړی چی موږ یې له لږ وضاحت سره لوستونکوته ډالۍ کوو لومړی حجابت

(۱)زرقانی جلد ۱ صفحه ۷۳
(۲)الطبقات الکبری لابن سعد جلد ۱ صفحه ۹)

سیف لودین کتابتون

حجابت : دبیت الله شریف ددروازی چوکیداری اودمسجدحرام خذمت داخذمت بنی عبدالدار ته سپارل سوی وو چی حضرت عثمان طلحه رضی الله عنه سرته رسوی
سقایت : په حاجیانوبادی دزمزم اوبه څیښل داخذمت بنو هاشم ته سپارل سوی وو دبنو هاشم له خوابه عباس رضی الله عنه داخذمت سرته رسوی
رفادت :له فقیرانو بیوزله او مسافرو سره مرسته کول اوراټولی سوی مرستی به پرتی وی له هغو به یې څه ورکول داکاربنو نوفل ته سپارل سوی وو وارث بن عامربه سرته رسوی
عمارت : دمسجدحرام اوبیت الله شریف ساتنه ، آبادی ، اوکارداخذمت دبنوهاشم له لوری عباس رضی الله عنه سرته رسوی
سفارت : ددوو ډلو په څه معامله کې یوبل ته آستازی لیږل داخذمت په بنی عدی کې عمربن خطاب رضی الله عنه ته سپارل سوی وو
ندوه : مشوره کول دبنواسد څخه یزید بن زمعة بن اسود دشوری دمجلس آمیر وو
قبه : دجنګ په وخت کې دفوځ لپاره دخیمو برابرول داخذمت بنی مخزوم ته سپارل سوی وو دبنی مخزوم له خوا داخذمت خالد بن ولید رضی الله عنه سرته رسوی ..
لواء : بیرغ ورل دې ته عقاب هم وایې بیرغ یاجنډه وړل بنو امیه ته سپارل سوی وو چی داخذمت بیا دمعاویه رضی الله عنه پلار ولید رضی الله عنه سرته رسوی ..
اَعَنّه : دجنګ په وخت کې یادآسانو دځغاستی په وخت کې دآسونو اوسپرلیو برابرول دا خذمت هم دبنی مخزوم له خوا خالد بن ولید رضی الله عنه سرته رسوی لنډه داچی خالدبن ولید د جا هلیت په وخت کې هم دجنګ آمیر واود خیارکم فی الجاهلیة خیارکم فی الاسلام پوره مصداق وو
اشناق : دقومونو خپل مینځی شخړواولانجودپریکړی دمړی پور اوتاوان اداکول اوکوم سړی چی به ددیت اوتاوان دورکولوتوان نه درلودی له هغه سره مرسته کول داخذمت په بنی تمیم کې ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته سپارل سوی وو ابوبکر صدیق رضی الله عنه چی به څه کاردپاره ګام پورته کړ نوقریشوبه دابوبکر صدیق رضی الله عنه تصدیق کوی اوپه دغه کارکې به یې په مال اوځان سره دهغه مرسته کوله له ابوبکر صدیق رضی الله عنه پرته که به بل څوک ودریدی نو قریشویې تصدیق نه کوی
اموال محجره : وقف کړل سوی مالونه چی دبتانو دنذر اونیاز دپاره به وقف سوی وو په بنوسهم کښې حارث بن قیس ددې اوقافو سنبالونکې وو ..
ایسار وازلام : په غشوسره فالونه راایستل چی په دغه وخت کې سفرکول دبرکت دی که سپیره دبنوخزرج څخه صفوان بن امیه دفال دمحکمی مشر وو ....
داوهغه خذمتونه چی پیلابیلوټبروویشل سوی وو موږ درته بیان کړه ..

سیف لودین کتابتون

عبدمناف : امام شافعی رحمة الله علیه فرمایي د عبدمناف اصلی نوم مغیره وو ډیر ښائسته وو له دې کبله قمر البطحاء یعنی دمکی مکرمی سپوږمۍ ورته ویل سوی دی (۱) موسی بن عقبه روایت کوی چی ځینی ډبرلیکونه پیدا سوی دی چی داسی توری پرلیکلی دی :
(انا المغیرة بن قصی آمر بتقوی الله وصلة الرحم (۲)
ژباړه : زه دمغیره زوی قصی دالله ﷻ څخه دویری او دخپلوۍ پاللو حکم کوم..
هاشم : امام مالک رحمة الله علیه او امام شافعی رحمة الله علیه فرمایي چی دهاشم نوم عمرو وو په مکه مکرمه کې وچکالی وه هاشم په ښوروا کښې ډوډۍ میده کړه او دمکی په خلکو یې وخوړ له له دې امله دده نوم هاشم کیښودل سو هشم معنی ماتول هاشم د دې صیغی اسم فاعل دی معنی ماتونکۍ . (عمرو العلا هشم الثرید لقومه :::::::::: ورجال مکة مسنتون عجاف)
عمرو چی دلوړی مرتبی درلودونکي دی خپل قوم او دټولی مکی وخلکو ته یې ثرید جوړ کی او په دوئ یې وخوړی او دمکې خلک دوچکالۍ له وجهی ډیر کمزوری وو یوځل نه بلکې ډیر ځله یې دمکی خلکوته داسی خوراک ورکړ ډیره لوړه وه ډیره سختی وه او دده سترخان ډیر فراخ وو دهرمیلمانه لپاره دده سترخان غوړیدلی وو غریبانو مسافرو ته به یې دسفردپاره اوښان ورکول ډیر زیات ښائسته وو دپیغمبري رڼا دده په تندی کې ځلیدله ، بنی اسرائیلو علماء به چی کله دده تندي ته ولیدی نوسجده به یې کوله او دده لاسونه به یې ښکولول ،
دعربو قبیلو او دبنی اسرائیلو علماء به دنکاح لپاره خپلی لوڼی هاشم ته وړاندی کولی تردې کچی چی یوځل دروم پاچا هرقل هاشم ته لیک ولیږی چی ماته ستادسخا او شرافت خبر ونه رارسیدلی دی زه خپله شهزادګۍ چی په ښائست او جمال کې مثال نه لری تاته په نکاح درکوم ته دلته راسه چی خپله لور درته په نکاح کړم ، هاشم دپاچاله لورسره له نکاح کولو څخه انکار وکوی ، دروم دپاچا اصلی مقصد دا وو چی دپیغمبرۍ هغه رڼا چی دهاشم په تندی کې ځلیدله خپل کورته یوسی ویل کیږی چی دمرګ په وخت کې هاشم پنځه ویشت کلن وو (۳) یوائی هاشم په قریشو کې دارواج جاری کړ چی په کال کې به یې دوه ځلی دتجارت لپاره قافله لیږله په دوبی کې به یې شام ته او په ژمی کې به یې یمن ته لیږله دهمدې رواج مطابق به په هرموسم کې قافله روانیدله او ږده بیابانونه او وچ خوړونه اووچه اولنده ځمکه به یې وهله په ژمی کې به یمن او حبشی ته رسیدی دحبشی پاچا نجاشی به دهاشم ډیردرناوی کوی تحفی او ډالۍ به یې ورکولی او په دوبې کې به شام ، غزی ، او انقری ته چی هغه وخت دروم دپاچاتخت وو رسیدی دروم پاچا قیصر به هم هاشم ته په ډیر درنه سترګه کتل او هدیه او تحفی به یې هم ورته وړاندی کولی ، طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۴۲)

(۱) زرقانی جلد ۱ صفحه ۷۳ روض الانف جلد ۱ صفحه ۶)
(۲) زرقانی جلد ۱ صفحه ۳۰) (۳) زرقانی جلد ۱ صفحه ۷۲)

سيف لودين كتابتون

يوشاعر دهاشم په صفت کې وايي :

سَفَرَيْنِ سَنَّهَا لَهُ وَ لِقَوْمِهِ..................سَفَرَ الشِّتَاءِ وَرِحْلَةَ الْاَصْيَافِ

ژباړه : هاشم دخپل قوم دپاره ددوومسموسفردودکی يودژمی سفر اوبل ددوبی سفر (معالم التنزيل) اوهاشم ديمن اوروم له حکومتوڅخه دقريشودتجارتی قافلو دساتنی اوخوندينی حکم هم اخيستی وو.

دعربو لاری به ډير وخت له غلااولوټ اوتالان سره مخ وی اودتجارتی قافلولپاره به ډيری خطرناکه وی له دې کبله هاشم له قبائلوسره داپريکړه وکړه چی موږ به ستاسو اړتياوی پوره کوو اوتاسوبه زموږ قافلی ته هيڅ قسم تاوان نه رسوی ، دهاشم ددې ښه تدبير دانتيجه راووتله چی ټولی لاری په امن سوی الله ﷻ په خپل کلام کې قريشوته دا انعام ورياد کړی دی ، لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ(۱) إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ (۲) فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ (۳) الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ (۴)

ژباړه :لکه څرنگه چی قريش دالله ﷻ په رحمت سره په ژمی اودوبی کې په سفرکولوعادت سوی دی له دې وجهی دوئ ته دنعمت په بدل کې د الله ﷻ عبادت کول په کاردی چی ددې کور مالک دی الله ﷻ دوئ ته په لوږه کې خوراک ورکړ اوله ويری څخه يې په امن کړه کله چی به دحج وخت راغلی نوهاشم به ټولو حاجيانوته غوښه ډوډۍ خورماورکو له او د زمزم اوبه به يې په څيښلی په منا،مزدلفه اوعرفات کې به يې داسی خوراکونه ورته تيارول اوداوبوانتظام به يې کوی.

پرأميه بن عبدشمس باندی دهاشم سخاوورکړه اوپه ټولوعربوکې دده درناوی ډير گران پريوتی ده هم داهڅه وکړه چی دهاشم په څير خلکوته خوراک ورکړی خوأميه سره له ډير مالداری اوشتمنی دهاشم مقابله نه سوه کولای ، له بنوهاشم سره (۱) دبنوأميه ددښمنی پيل له همدی ځايه کيږی يوځل هاشم له تجارتی قافلی سره په سفر روان سو په لاره کې په مدينه منوره کې ميشت سو هلته يې په بازار کې پريوه ښځه سترگې ولگيدی دډير ښائست اونزاکت څخه پرته شرافت ، پوهه ، فراست ، هم دهغې په څيره کې ښکاره معلوميدی هاشم پوښتنه وکړه چی داښځه دچاپه نکاح کې دی اوکه نه؟ يوچاورته وويل چی دا د اَصيحه بن جلاح ميرمن وه له اصيحه څخه يې دوه زامن يوعمرو، اوبل معبدپيداسوی دی وروسته اصيحه دې ته طلاق ورکړ

هاشم هغې ښځي ته دنکاح پيغام وليږی دهاشم دنسبی شرافت اوځانی عزت په وجه هغې سمدستی پيغام قبول کړ اونکاح وتړل سوه ددغه ښځی نوم سَلمَیٰ بنت عمرو وه چی دبنی نجار له قبيلی څخه وه ، له نکاح وروسته هاشم خلک راوغوښتل چی په دوئ کې دقافلی ټولوخلکوبرخه واخيسته اوڅه خلک دخزرج قبيلی څخه هم راغوښتل سوی

سیف لودین کتابتون

هاشم له واده وروسته ځوورځي په مدينه منوره کې پاته سو سلمى اميداوره سوه چې له دې ځخه عبدالمطلب پيداسو کله چې عبدالمطلب پيداسو نو په سرکې يې يوويښته سپين وو له دې وجهې ځخه شيبه نوم پرکيښودی هاشم له قافلې سره غزی ته ولاړی له رسيدو سره هم هلته وفات سو اوهم هلته په غزه کې ښخ سو (١)

عبدالمطلب : ياشيبة الحمد!

دعبدالمطلب خپل نوم شيبة الحمد وو ډير زيات ښائسته وو يوشاعروايي :

عَلَى شِيْبَةِ الْحَمْدِ الَّذِى كَانَ وَجْهُهُ .... يُضِئُ ظَلامُ اللَّيْلِ كَالْقَمَرِ الْبَدْرِ

دځورالسم دسپوږمۍ په څير دشيبة الحمد مخ دشپې تياره رڼا کوله (زرقانی جلد ١ صفحه ٧١ دعبدالمطلب لفظی معنی دمُطّلِب مريئ دهاشم له مړينې وروسته دشيبه مور په مدينه منوره کې دخپل پلار په کورنۍ بَنی خزرج کې کونډه پاته سوه ، کله چې شيبه لږ لوی سو نودده آکا مطلب دشيبه دراوستلو لپاره له مکې مکرمې ځخه مدينې منورې ته ولاړی دوئ دواړه دمکی ښارته ورسيدل مکی ته دننوتلوپه وخت کې شيبه دخپل آکا شاته پراوښ باندې سپور وو دشيبة جامې اوکالی خيرن اوپه خاورولړلی وو اويتيم والی يې له مخ ځخه ښکاره کيدی خلکوله مطلب ځخه پوښتنه وکړه چې داځوک دی مطلب دشرم په وجه وويل چې دازما مريئ ده له دې کبله چې خلک پيغورورنه کړی چې وراره يې په داسې خيرنوجامو کې دی نوځکه شيبه په عبدالمطلب سره مشهور سو ، مطلب چې کور ته ورسيدی وراره ته يې ښائسته جامې واغوستلې اوخلکوته يې وويل چې دازما وراره دی (٢) ، ابن سعدپه طبقات کې روايت کوی چې عبدالمطلب په ټولوقريشوکښې ترټولوزيات ښائسته اونازک وو اوترټولوډيرځواکمن اوهډور اوترټولوډيرحليم اوزغم لرونکي اوترټولو سخی اوعزتمنداوترټولوډيرله شر اوفتنې ځخه ليری اود قريشو يو منل سوی مشراوسردارو (٣)

دعبدالمطلب سخا دخپل پلار هاشم ځخه هم زياته وه دعبدالمطلب ميلمستيا يوائی انسانانوته نه بلکې مرغان اوحيوانات هم رسيدله له دې امله عربونومورې دفياض ډير زيات سخی اومطعم طير السماء يعنی داسمان مرغانوته خوراک ورکونکي په نومونو يا داوو ، شراب يې پرځان حرام کړی وو کله به چې دروژې مبارکه مياشت راغله نوپه ځانگړی ډول به يې فقيرانواوبيوزله ته خوراک ورکوی غارحِراء کښې ترټولومخکې خلوت اويوائی والی عبدالمطلب کړی دی (٤)

(١) الطبقات الكبرى لابن سعد جلد ١ صفحه ٤٥ / ٤٦)
(٢) فتح البارى جلد ٧ صفحه ١٢٤)
(٣) الطبقات الكبرى جلد ١ صفحه ٥١)

سیف لودین کتابتون

دزم زم څاه اودعبدالمطلب خوب :

دجرهم قبیله په اصلي وطن یمن کې اوسیدله په یمن کې وچکالي راغله بنی جرهم دژوند په لټون کې له یمن څخه ووتل ناڅاپه یې په لاره کې له اسماعیل ﷺ اودهغه له مورمبارکې بی بی هاجرې سره دزم زم له کوهي سره نژدې ملاقات وسو دجرهم دقبیلې داځای خوښ سو اوهم دلته یې واړول اوبیاڅه موده وروسته اسماعیل ﷺ په همدې قبیله کې واده وکوی اوله پیغمبرکیدو وروسته عمالقه اوجرهم دواړه یمن ته ولیږدول سو دیوسلو شلو کالوپه عمر اسماعیل ﷺ وفات سو اوپه حطیم کې له خپلې مور سره ښخ سو داسماعیل ﷺ تروفات کیدو وروسته دده دوصیت برابردده زوی قیدار دکعبې شریف مشر اوواکمن سو همدا سلسله روانه وا وبنواسماعیل دکعبې شریف واکمن وو څه وخت وروسته دبنواسماعیل اوجرهم قبیلې په مینځ کې جګړه مینځ ته راغله آخر جرهم قبیله زورورہ سوه اوپه مکه مکرمه کښې دجرهم قبیلې حکومت قائم سو څوورځې وروسته جرهم قبیلې پر خلکو ظلمونه شروع کړه ظلم دې کچې ته ورسیدی چې داسماعیل ﷺ اولادونه له مکې ووتل او په شاوخوا سیموکې آباد سو دجرهم قبیلي ظلم اوزیاتی اوفسق اوفجور اودبیت الله شریف بی حرمتی ترحدوا وښتله نوله هرلوری څخه دعربو قبیلې دمقابلې لپاره پاڅون وکړ اوجرهم قبیله یې دې ته مجبوره کړه چې دمکې څخه ووزي خوڅه وخت چې وتله نودکعبې شریفې شتمني یې دزم زم په څاه کې پټ کړه اوزم زم څاه یې داسې بنده کړه چې له ځمکې سره هواره سوه اوهیڅ نوم اونښان یې پاته نه سو دجرهم قبیلې له وتلووروسته بنواسماعیل بیرته مکې ته راغلل اوپه مکه کې میشت سو خوزم زم څاه ته هیچا هم توجه ونه کړه دوخت په تیریدو سره دهغې نوم اونښان هم ورک سو خوکله چې دمکې مکرمې حکومت اومشرتوب دعبدالمطلب ولاس ته ورسیدي اودالله ﷻ اراده وه چې دزم زم څاه چې له ډیره وخته څخه بنده وه بیرته راښکاره کړې نودښوخوبوپه ذریعه عبدالمطلب ته ددغه ځای کیندلو حکم وسو اوددغه ځای نښې نښانې یې په خوب کې وروښودل سوې عبدالمطلب خپله خپل خوب داسې بیانوي زه په حطیم کې ویده وم یو څوک زماخواته راغلی اوماته یې په خوب کې وویل (اِحْفِرْ بَرَّةَ بره وکینده ماپوښتنه وکړه وَمَابَرَّةَ بره څه ته وایې هغه سړی روان سو ، بله ورځ بیا همدلته ویده وم چې په خوب کې می هم هغه سړی ولیدی اوراته وایې اِحْفِرْ الْمَضْنُونَةَ مضنونه وکینده ، ماپوښتنه وکړه مضنونه څه شئ دی هغه سړی بیا روان سو ، په دریمه ورځ بیا

سيف لودين کتابتون

دغه سړی په خوب کې راغلی اوراته وایې احفر طيبة طيبه وکينده ، ماورته وويل ، ماالطيبة ، طيبه څه شئ دی هغه سړی بيا روان سو ، په څلورمه ورځ بيا زه دلته ويده وم په خوب کې هغه سړی راته وايې زمزم ، زمزم وکينده ما وويل ومازمزم .زمزم څه شئ دی هغه جواب راکړی : (لَاتَنْزِفُ اَبَدًا وَلَا تُذَمّ تُسقَى الْحَجِيْجِ الاَعْظَمْ (١)

زمزم داوبو څاه دی چې ددې اوبه نه بنديږی اونه کميږی بيشميره حاجيان اوبه کولای سی اوبيا يې ددغه ځای څه نښې نښانی هم راوښودلې چې دغه ځای وکينده په دې طريقه په واروارد خوب په ليدلو سره اودنښانو په ښودلو سره زما يقين راغلی چې داخوب رښتيا خوب دی عبدالمطلب قريشوته خپل خوب بيان کړی اووې ويل چې زما ددغه ځای دکيندلو اراده دی قريشو دده دخبری مخالفت وکوی خوعبدالمطلب دمخالفت څه پرواونه کړه کولنګ اوبيلچه يې راواخيستل اودخپل مشر زوی حارث سره هلته ولاړی اودنښانو برابر يې دزمزم دڅاه کيندل پيل کړه عبدالمطلب به څاه کيندله اوحارث به خاوره اړوله له درې ورځوروسته اوبه ښکاره سوی عبدالمطلب له ډيری خوشحالی څخه دالله اکبر ناره وکوله اودايې وويل (هَذَا طَوَى اسماعيل) دا داسماعيل عليه السلام څاه دی له دې وروسته عبدالمطلب دزم زم شاوخوا څو حوضونه جوړکړه چې هغه به يې دزم زم داوبو څخه ډک کړل اوحاجيانوته به يې ورکولې يوشميرکين کښانوداشرارت پيل کړی چې دشپې به يې دغه حوضونه خرابول کله چې به سهار سو نوعبدالمطلب به هغه بيرته جوړول آخر له دې خلکو ډير تنګ سو اوله الله ﷻ څخه يې دادُعا وغوښتله :

(اللهم انی لا احلها لمغتسل ولکن هی لشارب حل) ژباړه : اې الله ﷻ زه د زم زم په اوبو باندی خلکوته دغُسل اجازه نه ورکوم يوائې دڅيښلو اجازه ورکوم .

سهار له راپورته کيدو سره سم عبدالمطلب اعلان وکوی چې له دې وروسته به څوک دزمزم په اوبو غسل نه کوی وروسته به چې چادحوض دخرابولو اراده وکړه هغه به خامخا په څه ناروغۍ اخته کيدی کله چې داسی ډيری پيښي مينځ ته راغلی نوکين کښانو دعبدالمطلب دحوضونړول پريښودل ددې پيښي پوره تفصيل په طبقات الکبری لابن سعد صفحه ١٤٩ اوخصائص کبری صفحه ١٤٣ وصفحه ٩٤ جلد ١) اوالبدايه والنهاية لابن کثير جلد ٢ صفحه ٢٤٤ کښي ذکر دی

---

(١) طيبه ، مضنونه ، اوبره ، داټول دزم زم لقبونه اوصفتونه دی طيبه معنی پاکه اوبره معنی فراخه اومضنونه معنی دبخل قابله په ښوشيانو کې انسان دبخل اوکنجوسي څخه کار اخلی اود زم زم اوبه خو ډيری پاکی اوډيری فراخی هم دی اوډيری زياتی ارزښتناکی هم دی وکافر اومنافق ته په ورکولو کې بايدبخل وسی ځکه دااوبه

سیف لودین کتابتون

دعبدالمطلب نذر

دزم زم دڅاه دکیندلو په وخت کې دعبدالمطلب دیوه زوی حارث څخه پرته بل مرستندوئ اوملګری نه وو له دې کبله ده پرځان نذرومنی چې که الله ﷻ ماته لس زامن راکړل اودوئ لویان سوه اوزما ملاتړ ئې وکړ نو یوزوی به دالله ﷻ په نوم ذبحه کوم، څه وخت چې الله ﷻ دده دا ارمان اوهیله پوره کړه اولس زامن یې ورکړه نویوه ورځ دکعبې شریف مخ ته ویده وو اوپه خوب کې یې ولیدل چې یوسړی ورته وایې:

(یاعبدالمطلب اوف بنذرک لرب هذاالبیت)

ژباړه: اې عبدالمطلب کوم نذر چې تاددې کور دمالک په نامه منلی وو هغه پوره کړه. عبدالمطلب له خوبه راویښ سو اوټول زامن یې رایوځای کړل اودخپل نذر اوخوب خبره یې دوئ ته وکړه ټولوپه یوه خوله وویل (اوف بنذرک وافعل ماشئت) ژباړه:

خپل نذرورکړه اوڅه چې ستاخوښه وی هغه وکړه..

عبدالمطلب دټولو زامنو په نامه قرعه اندازی (هسکه) واچوله پچه دعبدالله په نامه وختله اوله عبدالله سره عبدالمطلب ترټولوډیره مینه درلوده عبدالله یې ترلاس ونیوی چاړه یې له ځان سره واخیستله اودقربانۍ ځای ته یې بوتلی دعبدالله خویندو چې ولیدی په ژړا سوی اوپه دوئ کې یوی عبدالمطلب ته وویل چې پلاره ته دلسو اوښانو اوعبدالله هسکه سره وکړه که پچه داوښانو په نوم وخته نولس اوښان قربانی کړه اوزموږ وروړ پرېږده په دغه وخت کې دیوی انسان دیت لس اوښان وو کله چې عبدالمطلب هسکه واچوله پچه بیا دعبدالله په نامه وختله، عبدالمطلب به لس لس اوښان زیاتول اوهسکه به یې اچوله خوپچه به دعبدالله په نوم راختله ترڅو چې سل اوښان ته ورسیدی کله چې سل پوره سو نوپچه داوښانو په نوم وختله په دې وخت کښې عبدالمطلب او ټولو حاضرو خلکو دالله اکبر نعره وکړه خویندو خپل ورور عبدالله ترلاس نیولی بوتلی اوعبدالمطلب سل اوښان دصفا اومروه ترمنځ حلال کړه (۱)

ابن عباس ﷺ فرمایې چې پخواد دمړی پورلس اوښان وو ترټولو مخکې عبدالمطلب په قریشو اوټولو عربو کې داطریقه رواج کړه چې دمړی پورسل اوښان دی اونبی کریم ﷺ هم همدا طریقه جاری کړه له دې پیښې وروسته عبدالله دذبیح په لقب سره ونومول سو اوله همدې کبله نبی کریم ﷺ ته ابن الذبیحین یعنی ددووقربان سویوزوی وایې معاویه ﷺ فرمایې یوه ورځ موږ درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضر وو یو کوچی راغلی اوهغه ﷺ ته

سیف لودین کتابتون

یې په داسې الفاظو خطاب وکوی، یاابن الذبیحین، نبی کریم ﷺ په شنډانو کې وخندل، معاویه رضی الله عنه چې کله ددې حدیث له بیانولو خلاص سو نو په ناستوخلکوکې یوسړی پوښتنه وکړه چې هغه دوه کسان چې ددوی دقربانۍ اراده سوی وه څوک دی ؟ معاویه رضی الله عنه وویل چې یو عبدالله صاحب او بل اسماعیل علیه السلام دی رواه الحاکم وابن الجریر (١)

علامه زرقانی فرمایې قریش چې به کله په غم اخته سو نو عبدالمطلب به یې ثبیر غره ته بوتلی دهغه په برکت به یې درحمت دباران دُعاغوښته او ډیر ځله داسې سوی دی چې د قریشو ستونزی دعبدالمطلب په برکت سره حل سوی دی .

دعبدالمطلب عادت له عامو عربو څخه بیخی بیل وو خپل زامن به یې دظلم اوفساد څخه منع کول اودښو خویونو بلنه یې ورکوله له سپکو اوذلیلو کارو څخه یې منع کوله عبد المطلب به دژمنی پوره کولو حکم کوی اوله محرمو ښځو لکه خور ، ترور ، خاله ، عمه اوداسې نورو له نکاح کولو څخه به یې منع کوله ،له شراب، زنا،اوډژوندی نجونوله ښخولو یې منع کوله اوپربیت الله شریفی یې له لوڅ طواف کولو څخه یې خلک منع کول ، دغلو لاس پریکولو حکم به یې کوی (زرقانی جلد١ /ص /٨٢)

داداسې کارونه دی چې په قرآن اوحدیث کې ددې تصدیق اوتائیدذکر سوی دی ،په سیرت حلبیه کښې له ابن جوزی رحمة الله علیه څخه رانقل سوی دی چې عبدالمطلب چې کوم کارونه کول په قرآن اوحدیث کښی دهغوډیروکارو حکم راغلی دی دمثال په ډول نذر پوره کول ، دمحرمو ښځوسره دنکاح حراموالی ، دغله لاس غوڅول،د ژوندی نجونی له ښخولو څخه منع کول ، دشرابو اوزنا حراموالی ، پربیت الله شریفه باندی له لوڅ طواف کولو څخه منعه ، دابن جوزی خبری پای ته ورسیدی .

ددې پیښو او حالاتو له لوستلو څخه داخبره ډیره ښه روښانه کیږی چې څومره چې دنبوت زمانه رانژدې کیږی هغومره نابلده کارونه راښکاره کیږی په هغه کچه ښه خویونه ، ښه آداب ، انوار ، اوبرکتونه اونا اشنا کارونه منیځ ته راځی خاص بیا دعبدالمطلب دژوندپه حالاتو کې ځای ځای ښه خوبونه چې دپیغمبری پیل وو راښکاره کیږی عبد المطلب ته به چې کله څه پیښه سوه نو دخوب اوالهام له لاری به هغه ته لارښودنه کیدله ..

په صحیح مسلم کې له واثله بن اسقع رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی داسماعیل علیه السلام له اولاد څخه بنو کنانه غوره کړل اوله بنو کنانه څخه یې قریش اوله قریشو څخه یې بنی هاشم اوله بنی هاشم څخه یې زه غوره کړم دابن سعد په یومرسل روایت کې داالفاظ زیات دی چې بنی هاشمو څخه یې عبدالمطلب غوره کړی ،

(١)الخصائص الکبری جلد ١ صفحه ۴۵)

سيف لودين كتابتون

دنبی کریم ﷺ ددې بیان څخه هیڅ کله فخرکول مقصود نه دی بلکې حقیقت حال ښکار کول مقصود دی ددې دپاره چې خلک دهغه ﷺ دمرتبې اودرجې څخه خبر سی اودالله ﷻ دلوی نعمت بیانول اوښکاره کول مطلوب دی چې درب العالمین په سل هاووزره واره شکر دی چې زه یې له غوره اوعزتمندی کورنۍ څخه راالیږلی یم فخر دې ته وایې چې خپله لویې بیانوی اودبل سپکاوی کوی خپل ځان عزتمندورته ښکاری اوخلګ سپک حقیقت ښکاره کولوته فخرنه وایې ، اوله دې پرته په انبیاء علیهم السلام اواولیاء الله کې فرق داوی چې اولیاء الله باندی دخپل کمال ښکاره کول واجب اولازم نه وی بلکې ډیروخت دولی لپاره خپل ولایت ښکاره کول هم زیانمن وی ، مګرکه یووخت څه دینی ګټه دهغه دښکاره کولوغوښتنه کوی، بل داچې په پیغمبر علیه السلام باندی د الله ﷻ له خوادافرض وی چې هغه دخپل نبوت اورسالت په شان دخپلو ورکړو کمالاتو هم ښکارندویې وکړی ددې لپاره چې امت دهغه له مرتبې څخه خبر سی اودهغه دکمالاتو څخه ګټه واخلی ، اودهغه په موصوف ذات کې هیچاته هیڅ شک اوشبه پاته نه سی ، الله ﷻ دې نه کوی چې دکوم بد نصیبه دپاره دایمان دخرابولوذریعه جوړه نه سی اوددې لپاره لکه څرنګه چې دهغه په نبوت اورسالت باندی ایمان لری دغه رنګه به دهغه په غوره والی اوپه هر حیثیت سره پرسپیځلتیا باندی هم ایمان لری ، له همدې کبله په حدیث شریف کې راغلی دی :

(اناسید ولد آدم ولافخر) ژباړه : زه دټولو انسانانو سرداریم اودادفخر په ډول نه وایم بلکې دتبلیغ په ډول وایم اودالله ﷻ حکم دی الله عزوجل فرمایې :

(يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ (سورة مائدة آیت ٦٧)

ژباړه :اې پغمبر علیه السلام ته هغه څه خامخا خلکوته ورسوه کوم چې دالله عزوجل له لوری تاته ر سیدلی دی اوکه بالفرض تاداسی ونه کړل نوته پوه سه چې تادالله عزوجل پیغام نه دی رسولی یعنی زه په دې حکم باندی دعمل کولوپه خاطر دخپلی پیغمبری اورسالت په شان دخپلی سرداری اعلان هم کوم هیڅ کله می فخر اولویی مقصدنه دی

په یو حدیث شریف کښې راځی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ، چې جبرائیل علیه السلام ماته داییان وکوی چې ماله مشرق ترمغربه پوری ټوله ځمکه وکتله خوتربنی هاشم می غوره څوک پیدا نه کړه داحدیث امام طبرانی اوامام احمد هم روایت کړی دی ..

حافظ عسقلانی فرمایې چې ددې حدیث دصحت نښې اوآثاریبخی ښکاره دی (۱) حکیم ترمذی فرمایې :چې جبرائیل امین علیه السلام دپاکو نفسونوپه لټون کې په ټوله ځمکه

سیف لودین کتابتون

کې وګرزیدی او دجهالت تیاری خپری وی له دې کبله جبرائیل علیه السلام وظاهری افعالو او کاروته ونه کتل بلکې فطرت او استعداد ته یې وکتل په دې اعتبار سره یې دعامو عربو څخه په عام ډول اوله بنی هاشم څخه په خاص ډول زیات غوره څوک پیدا نه کی په دغه وخت کې عربو دټولی نړۍ پرقوموباندی له څووجهو غوروالی درلودی او هیڅ یو قوم هم له دوئ سره برابر او مساوی نه وو

(۱) عرب دنړۍ ترټولو ټبرو غوره قوم دی دحسب اونسب په اعتبارسره

په عربو کې به دنسب پیژندنی دومره هڅه کیدله چی انسان خوپریږده دآسانونسب نامی به یاد وی دابه هم یادساتل سوی وو چی څوک دازادی ښځی له نس څخه دی اوڅوک دمینځی له نس پیداسوی دی اوچادشریفی ښځي شیدی رودلی دی اوچادرزیلی ښځي لکه دسلمة بن اکوع ﷺ له دې وینا څخه چی معلومیږی (انا ابن الاکوع والیوم یوم الرضع) زه داکوع زوی یم اونن به معلومه سی چی چا داصیلی اوآزادی شریفی ښځي شیدی رودلی دی اوچادوینځی ، یوجاهل شاعروایې

(لوکنت من زمان لم تستبح ابلی ::: بنو اللقیطة من ذهل بن شیبانا ::

که زه دمازن قبیلی څخه وای نودلاری څخه دراخیستل سوی ښځی زامنوچی ذهل بن شیبان قبیلی ته یې نسبت کیږی زمااوښان هیڅ کله نه وای لوټ کړی . دسپکاوی دپاره یې دوئ په بنو اللقیطه ؛ سره ونومول یعنی دوئ دعزتمندی ښځی زامن نه دی بلکې دلاری څخه دراخیستل سوی ښځي زامن دی

عرب دنړۍ ترټولو خلکو دلاوره اوغښتلی دی

دلاوری اوزړورتیا یې وداسی کچی ته رسیدلی وه چی هغه وخت ټوله دنیا دقیصر او کسری ترلاس لاندی وه اوټول خلک دقیصراو کسری مریان وو خو عرب سره له دې چی بیوزله اومسکینان وو دهیچا ترلاس لاندی نه وو اونه دچامریان وو دزړورتیا اندازه یې دومره حدته رسیدلی وه چی دعربویوغریب اوفقیر به دځواکمنو اوپیاوړوپاچهانوپه مخکې بیله ویری خبری کولی ..

عرب دنړۍ ترټولو خلکو سخاکونکي خلک دی

دسخاحال یې داوو چی دیومیلمه دپاره به یې روغ جوړ اوښ حلالوی خپله به وږی اوسیدل خو دمیلمه وږی پاته کیدل به ناشونی وو ..

عرب دنړۍ ترټولو زیرک اوښه حافظه لرونکي دی

دعربو دحافظی اوزیرکتیا شهرت په ټوله نړۍ کې خپورسوی وو د سل شعروقصیده به یې په یو ځل اوریدو سره یادیدله

سیف لودین کتابتون

عرب د نړۍ تر ټولو قومو غیرتمند او ساتونکي دی

دغیرت او ساتنی حال یې داوو چی دخپل ځان یادخپلی قبیلی په معمولی بیعزتی باندی به یې خپل ځان او مال قربانوی خپل منځی جنګ جګړی به یې ډیری په همدی وجه راتلی

عرب د نړۍ تر ټولو خلکو فصیح او بلیغ قوم دی

فصاحت او بلاغت کښي هیڅ یوژبه عربی ژبی ته نژدی کیدای هم نه سی بلکې اول خو په هیڅ ژبه کښی پرعلم بلاغت باندی مستقل کتابونه نسته که وی نو هغه ټول دعربی ژبی له کتابو څخه نقل سوی دی او الله تعالی ددوئ په فطرت او خټه کې غوره کمال او ښه جوهرا خښلی وو خو دکم عقلي او ناپوهي په وجه به بیځایه ټینګیدل مګر دهمدغه خویو او وړتیا مخ چی کله په تعلیم ربانی او تلقین رحمانی سره بدل سو نو همدا جاهل قوم چی دعمل په لحاظ سره دحیواناتو څخه هم بدتروو دوئ دملائکو څخه هم افضل او غوره سو او همدا قوم چی په قتل او لوټمار بوخت وو څه وخت چی دوئ دالله ﷻ په لاره کې دقربانی او سرور کولو دپاره راپورته سول نو دآسمان ملائکه وو سپینی یاژړی یاتوری لنګوټې وتړلی او ددوئ دمرستی لپاره ددوئ له دښمنانو سره دجهاد لپاره حاضر سو بهر حال عرب که څه هم دخپلو کړنو او کاړو په لحاظ سره په هغه وخت ښه خلک نه وو خو دښو اخلاقو او وړتیا او استعداد او آزادی خوښولو په لحاظ سره دغه وخت ډیر غوره خلک وو (١) دعملو اصلاح آسانه دی خودخوی او فطرت بدلیدل ګران کاردی له دې کبله الله ﷻ دنبوت او پیغمبری دپاره دغه کورنۍ غوره کړه ددې لپاره چی ددې قوم څخه چی کوم پیغمبر ؑ پیداسی هغه به دښو اخلاقو او روغ فطرت خاوندوی ځکه دپیغمبر ؑ دپاره دښو اخلاقو خاوند کیدل ضروری او لازمی دی ددې دپاره چی هغه دبل چا اصلاح وکوی

عَبدُالله صاحب :

حافظ عسقلانی وایې چی عبدالله دنبی کریم ﷺ دپلارنوم دی او په دې کي دهیچا اختلاف نسته (٢) داهغه نوم دی چی دالله ﷻ تر ټولو نومونو ډیر خوښ دی لکه چی په حدیث شریف کې راغلی دی چی دالله ﷻ په نزد تر ټولو ډیرغوره دوه نومونه دی یو عبدالله او بل عبدالرحمن (رواه مسلم) او داځکه چی لفظ دالله اسم اعظم دی لکه چی دامام ابوحنیفه النعمان رحمة الله علیه څخه نقل سوی دی او امام طحاوی په مشکل الاثار جلد ١ صفحه ٦٣ کې په خپل سند سره بیان کړی دی اسم اعظم هست الله العظیم ...... جان جان و محی اعظم رمیم

---

(١) قال الحافظ ابن تیمیه لیس فضل العرب وقریش وبنی هاشم بمجرد کون النبی صلی الله علیه وسلم منهم وان کان هذا من الفضل بل هم فی انفسهم افضل ای باعتبار الاخلاق الکرام والخصال الحمیدة واللسان العربی وبذلک یثبت للنبی صلی الله علیه وسلم انه افضل نفسا ونسبا والالزم الدور زرقانی جلد ١ صفحه ٢٩)

سیف لودین کتابتون

ټوله اسماء الحسنی داسم دالله تابع دی دالله ﷻ له اسم وروسته درحمن مرتبه لوړه دی لکه چی دالله ﷻ ارشاددې دلیل دی (قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ اَیًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَاۤءُ الْحُسْنٰى (۱۱۰آیت سورة الاسراء) ورته ووایه الله ﷻ راوبولی یارحمن راوبولی ..

له دې کبله دادوه نومونه ترټولو غوره دی لومړی عبدالله چی اسم اعظم ته مضاف یم عبدالرحمن چی اسم صفت ته مضاف دی اودده مرتبه له اسم اعظم څخه وروسته کیدای سی چی دعبدالله دزوکړی په وخت کې دعبدالمطلب په زړه کې په خاص ډول دا خبره لویدلی وی چی ددې عزت مند زوی نوم یې داسی غوره نوم کیښودی چی دالله په نزد ترټولو نومونو ډیر غوره نوم دی

عبدالله صاحب له بی بی آمنی سره څه وخت واده وکوي ؟

عبدالمطلب صاحب چی کله دعبدالله صاحب دفدیه څخه خلاص سو نودده دواده کولوپه فکر کې سو، بنوزهره قبیله چی دنسب په لحاظ یې ځانګړی ځای درلودی عبدالمطلب په بنوزهره قبیله کې دوهب بن عبدمناف لورته چی دهغې نوم بی بی آمنه وه اودخپل آکا وهیب بن عبدمناف په پالنه کې وه دعبدالله دنکاح پیغام ولیږی اودوهیب لور هاله ته یې چی دبی بی آمنه دتره لوروه دخپلی نکاح پیغام ولیږی په یوه مجلس کې دواړه نکاح وی وسوی حمزه رضي الله عنه دهاله له نس څخه دی او په خپلوی کې دنبی کریم ﷺ اکاهم دی اورضاعی ورورېې هم دی (۱) ،، ابن عباس رضي الله عنه فرمایې کله چی عبدالمطلب خپل زوی عبدالله دنکاح لپاره له ځان سره بوتلی نوپه لاره کې په یوې یهودی زړی ښځي باندی تیرسو دهغې نوم فاطمه بنت مرّوو اوپه تورات اوانجیل ډیره ښه خبره وه هغې چی کله دعبدالله په مخ کې دنبوت رڼا ولیده نوخپل ځان ته یې راوبلی اودایې وویل زه له تاڅخه سل اوښان قربانوم عبدالله په ځواب کې داشعرونه ورته وویل : :

(اماالحرام فالممات دونه ::.................... والحل لاحل فاستبینه :)ژباړه : له حرام کارکولوڅخه مرګ راته آسانه دی ، اوداسی کاریېخی حلال نه دی چی هغه زه ښکاره کړم ،،

فکیف بالامر الذی تبغینه :................... یحمی الکریم عرضه ودینه ::

ژباړه :کوم ناروا کار چی ته غواړی هغه له ماڅخه څرنګه وکړل سی شریف نفس لرونکي انسان خودخپل عزت اودین پوره ساتنه کوی .

عبدالله صاحب چی کله له بی بی آمنه سره نکاح وکړه نوبیرته په هم هغې ښځي باندی تیرسو هغې پوښتنه وکړه اې عبدالله ته چی ددې ځای څخه ولاړی نوچیری پاته سوی عبدالله صاحب ورته وویل مادوهب بن عبدمناف له لور آمنی سره نکاح وکړه اوله نکاح

---

(۱) الطبقات الکبری جلد ۱ صفحه ۵۸

سیف لودین کتابتون

وروسته درې ورځې هلته پاته سوم هغې يهودي ښځې چې داواوريدل وې ويل والله زه بدکاره ښځه نه يم ښتاپه تندي کې مې دنبوت رڼاوليده ماغوښتل چې دارڼا زماخواته را سي خوالله ﷻ چې چيرې وغوښتله هلته يې دارڼا کيښودله ، داروايت په دلائل ابي نعيم کې په څلورو (١) طريقوسره اوپه طبقات ابن سعد کې په دريو (٢)طريقوسره يادسوی دی اوددې روايت يوشمير راويان ضعيف اوکمزوري دي خوکوم روايت چې په ډيرو طريقوسره راسي که بالفرض ددې روايت دسند هر راوي يوائې يوائې هم ضعيف وي بياهم دمحدثينوپه نزد مقبول اودمنلوړدی ..

له بيلابيلولارودروايت راوړل دحسن لغيره تردرجه پوري رسيږي اودکوم روايت چې يوشمير راويان ضعيفه وي اوروايت په بيلابيلولارروراوړل سوی وي ددې په مقبول اومعتبرکيدو کې څه شک کيدای سی اوداروايت په تاريخ طبري جلد ٢ صفحه ١٧٥ کې هم په سندسره ذکر دی چې ددې روايت ډير راويان دبخاري راويان دي

عبدالله صاحب دتجارت دپاره له قافلې سره شام ته ولاړی په لاره کې دناروغي له کبله په مدينه منوره کې پاته سو قافله چې کله مکې ته بيرته راغله نوعبدالمطلب پوښتنه وکړه چې عبدالله چيرې پاته سو دقافلې خلکو ورته وويل چې دناورغی په وجه دخپلې خسرګني کره په مدينه کې پاته سو عبدالمطلب سمدستي خپل مشر زوی حارث مدينې ته وليږی مدينې ته له رسيدوسره سم خبر سو چې عبدالله صاحب وفات سوی دی يوه مياشت ناجوړه وو اوله وفات کيدو وروسته په مدينه منوره کې دنابغه په نامه ځای کښي ښخ سو حارث بيرته راغلی اوعبدالمطلب اونورخپل خپلوان يې له دې پيښې خبر کړل دوئ ټول خفه اوغمجن سو ..(٣)

له قيس بن مخزمه څخه نقل سوی دی وايې چې نبی کريم ﷺ لا دمور په نس کې وو چې عبدالله صاحب وفات سو ..قال الحاکم هذاحديث على شرط مسلم .. واقره الذهبى (٤)

دوفات کيدو په مهال دعبدالله صاحب په عمرکې اختلاف دی ځوک وايې چې د ديرش کاله وواوځوک وايې چې دپنځه ويشت ياأته ويشت يا اتلس کاله وو صحی دادی چې دمړينې په وخت کې اتلس کلن وو اوعلامه سيوطی رحمة الله عليه هم دې ته ترجيح ورکړې ده (٥) دمړينې په وخت کې عبدالله صاحب پنځه اوښان اوڅه بزې اوپسونه اويوه مينځه چې دهغې نوم برکة اوکنيه يې ام ايمن وه داشيان يې په ميراث پريښودل ..

(١) دلائل ابی نعيم جلد ١ صفحه ٣٨)
(٢) طبقات ابن سعد جلد ١ صفحه ٥٩)
(٣) زرقانی جلد ١ صفحه ١٠٩)
(٤) مستدرک حاکم جلد ٢ صفحه ٦٠٥)
(٥) زرقانی جلد ١ صفحه ١٠٩)

سیف لودین کتابتون

دپیلانوپه ملتیاپرمکه مکرمه دبریدکولوپیښه

دنبی کریم ﷺ ترزوکړی پنځوس یاپنځه پنځوس ورځی مخکې داصحاب د پیلانو لرونکودهجوم راوړلوپیښه منځ ته راغله چی په سیرت اوتاریخ کې مشهوره قصه دی اوپه قرآن کریم کې ددې پیښې په اړه یوخاص سورت نازل سوی دی تفصیلی قصه دتفسیر په کتابوکې ذکرده ، لنډه داچی دحبشی دپاچا نجاشی له لوری دیمن والی دابرهه په نامه یوسړی وو کله چی ده ولیدل چی دعربوټول خلک دبیت الله شریف دحج لپاره مکی مکرمی ته ځي اودکعبی طواف کوی نوده داوغوښتل چی دعیسایې مذهب په نامه یولویه آبادی جوړه کړی چی ډیرښائسته اونقش لرونکي وی ددې دپاره چی عرب ساده کعبه پریږدی اوددې مصنوعی اوښائسته جوړی سوی کعبی طواف وکوی دوئ دیمن په پلازمینه صنعاکې ډیر ه زیاته ښائسته ګمبده جوړه کړه عربوکې چی کله داخبرورسیدی سمدستی دکنانه قبیلې یوسړی هلته ولاړی اوپه هغې کې یې غټی بولی وکړی اووتښتیدی ، داداابن عباس ﷺ څخه روایت سوی دی ، اویوشمیرنوربیا وایې چی دعربوځوانانو دهغې شاوخوا اور بل کړ بادهغه اورپورته کي اوددوئ ددروغوپه کعبه کې ولګیدی ددروغجنو کعبه وسوځیدله اوایره سوه ابرهه ډیر په غصه سو اوقسم یې وکوی چی بیت الله شریف به هرومرووړانوم په همدې نیت یې دمکې پرلوری فوځ ته دتلوامروکړپه لاره کې چی دعربوڅومره قبیلوجګړه وکوله هغه یې تر تیغ تیر کړه تر څو مکی مکرمی ته رواورسیدی لښکر اوفیلان هم ورسره وو دمکی په شاوخواکې دمکی دخلکو حیوانان څریدل دابرهه لښکر هغه حیوانان په غنیمت ونیول په دوئ کې دوه سوه ۲۰۰اوښان دنبی کریم ﷺ دنیکه عبدالمطلب هم وو په دغه وخت کې دقریشو سردار اودکعبی شریفی دخونی واکمن اوذموار عبدالمطلب وو کله چی ده ته دابرهه خبر و ر سیدی نوقریش یې راجمع کړل اوورته وې ویل مه ویریږی مکه مکرمه خالی کړی ځکه کعبه هیڅوک نه سی ورانولای داداالله ﷻ کوردی هغه به خپله دکعبی ساتنه کو ی تردې وروسته عبدالمطلب دقریشوله مشرانوسره یوځای دابرهه دملاقات لپاره ولاړل ابرهه ته خپل لښکرخبر ورکړابرهه دعبدالمطلب ډیر ښه هرکلي وکوی الله تعالی عبدالمطلب ته بی مثاله ښائست اوزینت اوډیر هیبت اودبدبه اوعزت ورنصیب کړی وواوډده په لیدلو به هرسړی په ویره کی وو ابرهه چی عبدالمطلب ولیدی وویریدی اوپه ډیر عزت اودرناوی سره مخې ته راووتی داخویې مناسبه ونه ګڼله چی څوک له ځان سره پرخپل تخت باند ی کښینوی خو دهغه دعزت اودرناوی لپاره یې داوکړل چی خپله له تخت څخه راکښته سو اوپرغولي باندی له دوئ سره کینستی دخبروپه وخت کې عبدالمطلب له ابرهه څخه دخپلواښانودسپارلوغوښتنه وکړه ابرهه په ډیر تعجب سره ورته وویل ډیره

سیف لودین کتابتون

دحیرانتیا خبره ده چی ته له ما دخپلو اوښانو غوښتنه کوی او دکعبی په هکله چی ستا او ستادپلار نیکه دین اومذهب ځای دی تاددې په هکله هیڅ خبره ونه کړه عبدالمطلب په جواب کې ورته وویل (أَنَا رَبُّ الإِبِلِ وَلِلْبَيتِ رَبٌّ سَيَمْنَعُهُ) ژباړه : زه داوښانو مالک یم ځکه مې داوښانو غوښتنه وکړه اودکعبی مالک الله ﷻ دی هغه به خپل کورپه خپله وساتی ،

ابرهه له څه چوپتیا وروسته دعبدالمطلب داوښانو دورسپارلو حکم وکړ عبدالمطلب خپل اوښان راوستل راغلی اوقریشو ته یې وویل چی مکه پریږدی ده ټول اوښان دکعبی نذر کړه او څه خلک یې له ځان یو تلل اودکعبی پردروازه باندی ودریدی او ټولو په زاری سره دُعا وغوښته عبدالمطلب دغه وخت دادُعائیه شعرونه وویل ::

(لَاهُمَّ إِنَّ الْمَرْءَ يَمْنَعُ .... رَحْلَهُ فَامْنَعْ رِحَالَكَ)

اې الله ﷻ بنده دخپل کور ساتنه کوی ، اوته دخپل کورساتنه په خپله وکوی

(وَانْصُرْ عَلَى آلِ الصَّلِيبِ .... وَعَابِدِيهِ الْيَوْمَ آلَكَ)

اوته کومک ورکړه پرصلیبانو باندی اودصلیب پرعبادت کونکیو باندی

(لَا يَغْلِبَنَّ صَلِيبُهُمْ .... وَمِحَالُهُمْ أَبَدًا مِحَالَكَ)

ددوئ صلیب اوددوئ تدبیر ستا پرتدبیر باندی هیڅ کله هم نه سی غالب کیدای

جَرُّوا جَمِيعَ بِلَادِهِمْ .... وَالْفِيلَ كَيْ يَسْبُوا عِيَالَكَ

لښکر اوفیلان یې راخیژولی اوراوستلی دی ددې دپاره چی ستا بندګان بندیان کړی

عَمَدُوا حِمَاكَ بِكَيْدِهِمْ .... جَهْلًا وَمَا رَقَبُوا جَلَالَكَ

ستادحرم دبربادی په اراده راغلی دی اودااراده ددوئ دډیری کم عقلی له وجه څخه ده دوئ ستادلویي اوعظمت خیال ونه ساتی

عبدالمطلب له دُعا وروسته له خپلو ملګروسره یوځای غره ته وختی ابرهه خپل لښکر اوفیلانو ته دکعبی دورانولو امروکوی ناڅاپه دالله ﷻ په امر سره دوړو وړو مرغانو سیلونه راښکاره سو دهرمرغه په مښوکه اوپنجه کې وړې وړې ډبری وی چی یو واریې په لښکر باندی راووُرولی دالله ﷻ په قدرت سره هغه ډبری دګولیو (یعنی دنن زمانی دټوپک) دمرمیو کارورکړ دهرفوځی پرسر چی به ولویده لاندی به تروو تله پرچاچی به دغه ډبره ولګیده هغه به خامخا مړکیدی ، لنډه داچی په دې طریقه دابرهه لښکر ټول تباه اوبربادسو دابرهه په بدن دانی راښکاره سوی په ناروغی اخته سواو دده ټول بدن وشوریدی اودبدن څخه یې نوونه بهیدل شروع سو یو په بل پسی دهغه اندامونه غوځیدل اوغورزیدل آخر دهغه سینه وچاودیدله اوزړه یې دباندی راووتی اوابرهه هم په آخره سلګی سو کله چی ټول مردار سو نوالله تعالی یوسیلاب راوستی اوټول یې یو وړل اوسمندرته یې ورتوی کړه ﴿فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾۴۵آیت سورة الانعام) الله لره دې حمد اوثنا وی چی تیری کونکي قوم یې له ریښو وایستی (۱)

سیف لودین کتابتون

ارهاص :دا اسمانی نښانه دنبی آخرزمان ﷺ دراتلوغیبی اشاره اوغیبی اعلان وو دقریشو داغیبی مرسته اوساتنه یوائې ددې لپاره وه چې دادنبی آخرزمان چې په دنیاکې راتلونکی دی قبیله اوکورنۍ ده اودالله ﷻ دقبلې متولی اوساتونکی دی له دې کبله دعادت خلاف ددوئ مرسته وسوه که دانه وی نودمذهب په لحاظ خودحبشه پاچا اودیمن پاچا دمکی ترقریشوښه وو ځکه دمکی قریش مشرکین وواودبتانوعبادت یې کوی، اودیمن او دحبشه خلک اهل کتاب اوعیسایان وو نومعلومه سوه چې دقریشو داغیبی مرسته اود بیت الله شریفی خلاف العادت ساتنه داټول دنبی کریم ﷺ دزوکړی برکت اوزیری وو د پیغمبری له دعوی وروسته چې دپیغمبر ﷺ په لاس دعادت خلاف کار ښکاره سی هغې ته معجزه وایې اوکوم خلاف العادت خبره چې دپیغمبر ﷺ وخت ته نژدی ښکاره سی هغې ته ارهاص وایې دارهاص معنی بُنیاد دی لکه څنګه چې داسی خلاف العادت خبری دپیغمبري بنیاد اوپیل وی له دې وجهی څخه و دې کارو ته ارهاص وایې.
دابرهه دلښکر کشی اوبیا دهغه دهلاکت اوبربادی پیښنه دمحرم الحرام په میاشت کې و سوه څه وخت چې دنبی کریم ﷺ دزوکړی وخت بیخی نژدی ووپه دغه وخت کې داسی خلاف العادت خبری راښکاره سوی داټولی خبری دهغه ﷺ دپیغمبری ارهاصات نښي نښانی اوزیری وو تردې پیښی پنځوس ٥٠ــ یا ٥٥ ورځی وروسته نبی کریم ﷺ پیداسو.

فائدة جليلة: قال الماوردی فی کتاب اعلام النبوة واذا اختبرت حال نسبه صلى الله عليه وسلم وعرفت طهارة مولده علمت سلالة آباء کرام لیس فیهم مسترذل بل کلهم سادة قادة وشرف النسب وطهارة المولود من شروط النبوة آه.

ژباړه : ماوردی په کتاب اعلام النبوة کې فرمایې اې مخاطبه کله چې تادنبی کریم ﷺ دپاک نسب حال معلوم کړ اودهغه ﷺ پاک نسب دې ښه وپیژندی نوته به خامخاه داخبره وپیژنی چې نبی کریم ﷺ دعزت مندو پلرو اونیکه ګانو خلاصه دی اوهیڅوک هم دنبی کریم ﷺ دپلرونوپه لړۍ کې رزیل اوکمینه نسته ټول سرداران اومشران وو دنسب عزت اوپاک والی دپیغمبری له شرائطو څخه دی.

دنبی کریم ﷺ ټول پلرونه اونیکه ګان دخپلی زمانی هوښیاران سرداران اومشران وو ، فهم ،زیرکتیا ، ښه صورت ، ښه خوی ، ښه اخلاق اوښه اعمال ، صبر ،زغم، حلم ، سخا ، اوپه میلمستیا کې دوخت ځانګړی خلک وو دهرعزت اولوړوالی ، سرداری او پرمختګ کانونه اوخزانی وی اودنیکه ګانودنسب لړۍ خویې له ډیرواحادیثو اود صحابه کرامو ﷺ له خبرو معلومیږی چې په ملت ابراهیمی باندی وو لکه چې مخکې تیرسو اودکوموپلرونواونیکه ګانو په اړه چې په احادیثو کې یادونه نسته چې دوئ په ملت ابرا هیمی باندی ووکه نه نوددوئ حالت ددوئ دفطرت اوطبیعت په رواغوالی باندی په ښکاره دلالت کوی

پیدائیش (مبارکه زیږد نه)

ددواړو جهانو سردار محمد مصطفی احمد مجتبی صلی الله علیه وعلی آله وصحبه و بارک وسلم دفیلانو دپیښي څخه پنځوس (۱) یاپنځه پنځوس ورځی وروسته دربیع الاول په اتم تاریخ ددوشنبه په ورځ (۲) چی دکال ۵۷۰ میلادی داپریل میاشت سره برابردی په مکه مکرمه کې دسپیدو په وخت کې دابوطالب په کورکې پیداسو (۳) دزیږیدو په تاریخ کې مشهور قول خودادی چی نبی کریم ﷺ په دوولسم دربیع الاول پیداسوی مگر دجمهورو محدثینو اومؤرخینو په نزد غوره اوبهترقول دادی چی نبی کریم ﷺ په اتم دربیع الاول پیداسو عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما اوجبیر بن مطعم رضی الله عنه هم همدغه روایت نقل کړی دی اوهمدا قول علامه قطب الدین قسطلانی غوره کړی دی (۴)

دعثمان (۵) بن ابی العاص رضی الله عنه مور فاطمه بنت عبدالله وایې چی زه دنبی کریم ﷺ دزوکړی په وخت کې له بی بی آمنی سره وم په همدې وخت کې ماولیدل چی ټول کور له رڼا ډک سو اوماولیدل چی داسمان ستوری کښته راځي ترڅو چی زماداګمان سو

---

(۱) مشهوره خبره همدادی چی نبي کریم ﷺ دفیلانودپیښي څخه پنځوس ورځي وروسته پیداسوی دی اوهمداعلامه سهیلی غوره کړی دی اودمحمدبن علی څخه نقل دی چی پنځه پنځوس ورځی وروسته پیداسو اوداقول بیا علامه دمیاطی غوره کړی دی زرقانی جلد۱ صفحه ۱۳۰)

(۲) دجمهورو علماء همداقول دی چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دربیع الاول په میاشت کې پیداسوی دی اوعلامه ابن جوزی رحمه الله په دې باندی دعلماء اجماع اواتفاق نقل کړی دی ځینی وایې رسول اکرم ﷺ په ربیع الآخر کې اوځینی وایې په صفره کې اوځینی وایې په رجب کې اوځینی وایې په رمضان المبارک کې پیداسوی دی خوداټولی خبری کمزوری دی، زرقانی جلد ۱صفحه ۱۳۰)

(۳) عبدالله بن العاص څخه روایت سوی دی چی نبی کریم ﷺ ددوشنبی په ورځ دسپیدو دچاودیدو په وخت کې پیداسو زرقانی صفحه ۱۳۳ جلد۱ داروایت که څه هم دسندپه لحاظ سره ضعیفه دی خوپه دې سره په ټولوروایتوکې برابری راځي ځکه له ځینی روایتو څخه معلومیږی چی دنبی کریم ﷺ پیدائش په ورځ کې وسو اوځینی بیاوایې چی دشپې وسو خودسپیدو پر وخت دپیداکیدوپه روایت کې داهم ویل سوی چی دشپې وسو اوداهم ویل سوی چی ددوشنبی په ورځ سهار وختی وسو له دې کبله نوکوم روایتونه چی ددوشنبی په ورځ یادسوی دی هغه هم صحیح دی اوپه کوموروایتوکې چی ددوشنبی شپه یاده سوی هغه هم صحیح دی ځکه پیدائش که څه هم دسپیدوپه وخت کې سوی وی مگر دپیدائش اثار اونښانی دشپې څخه شروع وی ابن عساکر اوزبیر بن بکار دمعروف بن خربوز څخه روایت کوی چی نبی کریم ﷺ ددوشنبی په ورځ دلمرراختلوپه وخت کې پیداسو ، خصائص کبر ی جلد ۱ صفحه ۵۱ ابن حبان دمعروف بن خربوز توثیق کړی دی ابوحاتم فرمایې دابن خربوز حدیث لیکل کیږی کذافی الخلاصة و التهذیب (یوه باریکی) دهدایت دلمر راختلودپاره دسپیدو وخت مناسب دی چی ددې په نیمایې ورځ کی دریدل به څلویښت کاله وروسته وی والله اعلم قیل فی اسناد هذالحدیث یعقوب بن محمد

(۴) زرقانی جلد ۱صفحه ۱۲۱)

(۵) عثما ن بن ابی العاص ثقفی دثقیف له پلاوی سره دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضر سو اوپه اسلام سره مشرف سو نبی کریم ﷺ دئ په طائف باندی والی مقرر کړ دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه دخلافت تروخت پوری نوموړی په طائف باندی والی پاته سو بیاپه کال ۱۵ هجری کې عمرفاروق رضی الله عنه دطائف پرځای عمان اوبحرین ته ولیږی اوهلته والی مقرر سو ثقیف قبیله دمرتدکیدو څخه همدی عثمان بن ابی العاص وژغورله ده خپل قوم ته وویل اې ثقیف تاسوترټولو وروسته اسلام راوړی له دې وجهی داسلام څخه مه اوړی دعمر په آخری شیبوکې عثمان بن العاص رضی الله عنه په بصره کې اوسیدل غوره کړه دحضرت معاویه رضی الله عنه دخلافت تروخته هلته په بصره کې وو اوپه کال ۵۱ هجری کې په بصره کې وفات سو .. (الاصابه)

سيف لودين كتابتون

چې داستوری پرماراونه لویږی (۱) عرباض بن ساریه وایي چې درسول الله ﷺ مور مبا رکې بی بی آمنه دپیدائش په وخت کې رڼا ولیده (۲) اودهغې رڼا په وجه دشام ماڼۍ روښانه سوه دارِوایت په مسند احمد اومستدرک حاکم کښې هم یاد سوی دی ..
ابن حبان وایې دارِوایت صحیح دی اوددې په معنی په مسنداحمد کې له ابوامامه رضي الله عنه څخه هم روایت نقل سوی دی فتح الباری باب علامات النبوة فی الاسلام قال الهیثمی رواه احمد واسناده حسن وله شواهد تقویه ورواه الطبرانی اوپه یوروایت کې راغلی دی چې دبُصری ماڼۍ روښانه سوه
رازونه: ستورځمکی ته ولی راکښته سوځکه ودې اشاره وه چې اوس به ډیر ژر دځمکی څخه دکفر اوشرک تیاره لیری سی اودهدایت اولاړښودنی په نور به ټوله ځمکه روښانه سی لکه چې الله تعالی فرمایي: (قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُبِينٌ (١٥) يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (١٦) سورة مائدة)
ژباړه: رښتیاهم تاسوته دالله جل جلاله له لوری یوه رڼا دهدایت اویوروښانه کتاب راغلی چې دهغه په ذریعه الله تعالی داسی خلکوته لاره ښیي ثوک چې دالله جل جلاله درضا غوښتونکی وی اوپه خپل توفیق سره دوئ دتیاروڅخه راباسی اودهدایت اورڼا وخواته یې رابولی اودوئ ته برابره لاره ورښیي ..
له کعب احبار څخه روایت سوی دی (۳) چې په مخکنیو کتابوکې دنبی کریم ﷺ داشان یاد سوی دی (محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم مولده بمکة ومهاجره بیثرب وملکه بالشام (۴)
ژباړه: دالله جل جلاله دپیغمبر محمدصلی الله علیه وسلم پیدائش به په مکه کې وی اوهجرت به یې مدینی ته وی اودده ﷺ حکومت اوپاچهی به په شام کې وی یعنی له مکی مکرمی څخه ونیسه بیاترشامه پوری ټوله سیمه به دده مبارک ﷺ په ژوندکې داسلام تروا ک لاندی راځی لکه چې همداسی وسو شام دنبی کریم ﷺ په ژوندکې فتح سوکیدای سی چې په همدې وجه دنبی کریم ﷺ دپیدائش په وخت کې دشام ماڼۍ ښودل سوی وی اوبُصری چې دشام هیواد یوښار دی هغه په خاص ډول سره په دې وجه وښودل سو چې دشام په سیمه کې ترټولومخکې بصری ته دنبوت رڼا اودهدایت نور ورسیدی اودشام په سیمه کې ترټولو مخکې بُصری فتح سوه ..

---

(۱) عرباض بن ساریه رضي الله عنه مشهور صحابی دی داصحاب صفه څخه دی آیت (ولاعلی الذین اذا ماأتوک لتحملهم) دده په اره نازل سوی دی ډیر مخکې یې اسلام راوړی دی دبعثت په پیل کې یې اسلام قبول کړیه سنن اربعه کې دده څخه روایتونه نقل سوی دی دعبدالله بن زبیر رضي الله عنه دخلافت په وخت کې وفات سو (اصابه)
(۲) فتح الباری جلد ۶ صفحه ۴۴۶)
(۳) کعب احبار دبنی اسرائیلو په جلیل القدر علماء کې شمیرل کیږی درسو ل الله صلی الله علیه واله وسلم په وخت کې ژوندی وو خودحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه یاحضرت عمر فاروق رضي الله عنه دخلافت په وخت کې په اسلام مشرف سو منلی سوی ثقه دی ابوهریره ابن عباس اومعاویه رضي الله عنهم اوکبار تابعینو دهغه څخه روایتونه نقل کړی دی، تهذیب التهذیب)
(۴) کذافی نوادرالاصول للحکیم الترمذی صفحه ۶۹)

سيف لودين کتابتون

اوداهم کيداى سي چې دشام مانۍ په دې وجه ښودل سوي وې چې په هغه وخت کې په شام کې ځلويښت علماء وو له هغو څخه دير ش علماء ټول پرملت ابراهيمي باندي وو ددوئ مرکز اوځاى شام وو له دې کبله دنبي کريم ﷺ دپيدائش په وخت کې دشام مانۍ روښانه سوې ځکه ودې اشاره وه چې داملک به دنبوت په رڼا په خاص ډول روښانه کيږي اوپه همدې وجه نبي کريم ﷺ لومړی دمکې مکرمې څخه شام يعني مسجد اقصى پوري بوتلل سوورورسته بيا اسمانونو ته لکه چې الله تعالى فرمايي (سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ(١) سورة اسراء)

ژباړه : پاک دی هغه ذات چې هغه خپل بنده دشپې په يوه برخه کې مسجداقصى ته بوتلی چې دهغه شاوخوا موږ برکتونه خواره کړي دي

اوښکاره خبره دې چې دشام هيواد دمسجداقصى شاوخوا پروت دی الله تعالى خپل خاص برکتونه هلته خواره کړي دي اوابراهيم عليه السلام چې کله له عراقه هجرت وکی شام ته ولاړی اوقيامت ته نژدې چې کله عيسى بن مريم عليه السلام له اسمانه راښکته کيږي په شام هيواد کې به دجامع دمشق په مناره شرقيه باندې راښکته سي .

اونبي کريم ﷺ هم قيامت ته نژدې شام ته دهجرت کولو ترغيب ورکړی دی (رواه الحاکم)

يعقوب بن سفيان په حسن سندسره له عائشه صديقه رضي الله عنها څخه روايت کړی دی چې يو يهودي په مکه کې د تجارت په نيت اوسيدی په کومه شپه چې نبي کريم ﷺ پيداسو هغه يهودي په يو مجلس کې له قريشو پوښتنه وکړه چې نن شپه خوبه يو هلک نه وي پيداسوی قريشو ورته وويل موږ نه يو خبر يهودي وويل تاسو لړ پوښتنه وکوی نن شپه ددې اُمت نبي پيداسوی دی دهغه ددواړو اوږو ترمينځ به يوه نښه وي (يعني مهرنبوت) هغه به تردوو شپور پوري شيدې نه خوري ځکه يو پيری دده پرخوله باندې ګوته ايښی ده.

خلک سمدستي له دغه مجلس څخه ولاړسو اوپوښتنه يې پيل کړه وروسته معلومه سوه چې تيره شپه دعبدالله بن عبدالمطلب زوی پيداسوی دی ، يهودي وويل تاسو راځي وماته يې راوښودی يهودي چې کله ددواړو اوږو ترمنيځ نښه (مهرنبوت) وليدی بيهوښه سو کله چې پرهوښ سو سمدستي يې وويل چې پيغمبری له بني اسرائيلو څخه ولاړه اې قريش په الله قسم داګوچنئ به په تاسو داسې حمله کوی (١) چې دهغې خبر به له مشرق ترمغرب پوری خپورسي حافظ عسقلاني فرمايي چې ددې روايت سند حسن دی (٢) اوددې پيښې مثالونه اوشواهد سته چې ددې شرح اوتفصيل اوږد دی (٣)

---

(١) فتح الباری)

(٢) يعقوب بن سفيان فارسي دحديث له حافظانو څخه دی ثقه اومستند دی صاحب خير اوصلاح دی قعبی اوسليمان بن حرب اوابونعيم څخه يې علم حاصل کړی دی ترمذی اونسائي ديعقوب بن سفيان په شاګردانو کې شميرل کيږي په کال ٢٧٧ هجری کې وفات سو ، زرقاني جلد ١ صفحه ١۴)

(٣) فتح الباری جلد ١ صفحه ۴٢۵)

سیف لودین کتابتون

دکسرۍ دماڼۍ څورلس کنګرې راولویدې اودساوه ویاله وچه سوه

په همدې شپه کې داواقعه هم پیښه سوه چې دکسرۍ په ماڼۍ کې زلزله راغله اودزلزلې په وجه دماڼۍ کنګرې راولویدې اودفارس په آتش کده کې چې دزرو کالوراهیسې اورپه کښې بل وو هغه مړسو اوساوه ویاله وچه سوه کله چې سهار سو کسرۍ ډیر غمجن وو ځکه دپاچاعزت ددې دښکاره کولوڅخه مانع ووکسرۍ وزیران اومشاورین راوغوښتل اویوه لویه غونډه یې جوړه کړه په دې وخت کې داخبرراورسیدې چې دفارس په آتش کده (داوربلولوځای) کې اور مړسوی دی دکسرۍ غم نورهم تازه سو له بل لورې موبذان ودریدی وې ویل چې ماښام شپه ماداسې خوب ولیدی چې پیاوړې اوښان، عربي آسونه، راښکاره سی اوددجلې څخه دسیند لورې ته ووتل اوپه ټوله سیمه کې خپاره سول کسرۍ دموبذان څخه پوښتنه وکړه ددې خوب څه تعبیر دی، موبذان وویل شاید دعربوله خوا به څه لویه پیښه مخ ته راسي کسرۍ دباور اوډاډ په نیت نعمان بن منذرته یو فرمان جاري کړچې یولوی عالم ماته راولې، چې زمادخوپوښتنوځواب راکړې نعمان بن منذر لوی عالم عبدالمسیح غساني راوستی عبدالمسیح چې کله دربارته حاضر سو کسرۍ ورته وویل زه چې څه له تاڅخه پوښتم آیاته په هغه خبریې ؟ عبدالمسیح وویل، ته یې بیان کړه، که ماته معلومات وو نوزه به یې درته ووایم اوکه نه داسې څوک به دروښیم چې هغه په پوهیږي، پاچا ټوله پیښه ورته بیان کړه عبدالمسیح وویل چې زماپه ګمان په دې خبره زماماما سطیح پوهیږي اوهغه اوس په شام کې اوسیږي، کسرۍ عبدالمسیح ته حکم وکوی چې ته خپله خپل ماما ته دپوښتنې لپاره ولاړسه پوښتنه وکړه اوبیرته راسه عبدالمسیح خپل ماما سطیح ته ولاړې سطیح په دغه وخت کې دزکندن په حالت کې پروت وو خوهوش یې لاپاته وو عبدالمسیح چې څنګه ور ورسیدې سمدستي یې سلام ورواچوی اوڅه شعرونه یې ولوستل سطیح چې کله د عبدالمسیح شعرونه واوریدل نوعبدالمسیح ته یې وکتل اوداسې یې وویل چې عبدالمسیح په تیز اوښ سپور سو اودسطیح خواته ورسیدې هرکله او هغه مرګ ته نژدې دی ته دبنې ساسان پاچا دماڼۍ دزلزلې اودآتش کدې داوردمړکیدو اودموبذان دخوب په وجه رالیږلې یې چې سخت قوي اوښان اوعربي آسونه راښکاره سی اوددجلې څخه واوښتل اوپه ټوله سیمه کې خپاره سول اې عبدالمسیح ښه واوره ؟ کله چې دکلام الهی تلاوت ډیر ډیر کیږي اوآمسا والا راښکاره سی اوسمایه خوړ روان سی اوساوه دریاب وچ سی اودفارس اور مړشي نودسطیح لپاره به شام شام پاته نه سی دبنې ساسان څه نارینه اوښځې به دکنګروپه اندازه پاچهي کوي اوکوم شئ چې راتلونکې دی هغه ګواکې راغلی دې له دې خبرو وروسته سطیح مړسو عبدالمسیح بیرته راغلی وکسرۍ ته یې ټوله

پیښنه بیان کړه کسری ددې خبرپه اوریدو سره سمدستی وویل دڅورلس پاچهیود تیریدو دپاره یوڅه وخت په کاردی خودوخت په تیردوکې څه ځنډ کیږی. له هغوڅخه لس پاچهی خوپه څلورکاله کې پوره سوی اونوری څلورپاچهی دحضرت عثمان غنی رضی الله عنه دخلافت په وخت کې پوره سوی حافظ ابن سید الناس رحمة الله علیه داپیښنه په عیون الاثر کې په خپل اوږده سند سره یاده کړی ده (۱) سنددادی :اخبرنا الشیخ ابوالحسن علی بن محمد الدمشقی بقرائتی علیه قلت له اخبرکم الشیخان ابوعبدالله محمدبن نصر بن عبدالرحمن بن محمدبن محفوظ القرشی والامیر سیف الدولة ابوعبدالله محمدبن غسان بن غافل بن نجار الانصاری قرائة علیهما وانا حاضر فی الرابعة قالاانا الفقیه ابوالقاسم علی بن الحسن الحافظ قرائةً علیه ونحن نسمع قال انا المشایخ ابوالحسن علی بن المسلم بن محمد بن الفتح بن علی الفقیه واابوالفرج غیث بن علی بن عبدالسلام بن محمد بن جعفر الارمنازی الصوری الخطیب وابومحمد عبدالکریم بن حمزة لخضربن العباس الوکیل بدمشق قالوا انا ابوالحسن احمد بن الواحد بن محمد بن احمد بن عثمان بن ابی الحدید السلمی انا جدی ابوبکر محمدبن احمد قال انا ابوبکر محمدبن جعفر بن محمدبن سهل الفرایطی ثنا علی بن حرب ثنا ابوایوب یعنی بن عمران من ال جریر بن عبدالله البجلی قال حدثنی مخزوم بن هانئ المخزومی عن ابیه واتت له خمسون ومأة سنة قال لما کانت لیلة ولد رسول الله صلی الله علیه وسلم ارتجس ایوان کسری الی اخر الحدیث

اوداروایت په تاریخ ابن جریر طبری کښې هم په همدې سند سره ذکر سوی دی ::
حدثناعلی بن حرب الموصلی قال حدثنا ابوایوب یعلی بن عمران البجلی قال حدثنی مخزوم بن هانی المخزومی عن ابیه واتت له مأة وخمسون سنة قال لماکانت لیلة ولدفیها رسول الله صلی الله علیه وسلم ارتجس ایوان کسری وسقطت منه اربعة شرفة الی اخرالحدیث . تاریخ طبری جلد۲/ص/۱۳۱)

اوابن سکن هم داروایت په همدی سندسره روایت کړی دی لکه چی حافظ عسقلانی په اصابه کې فرمایې : واخرج ابن السکن من طریق یعلی بن عمران البجلی اخبرنی مخزوم بن هانی عن ابیه وکان اتت علیه مائة وخمسون سنة قال لماکانت لیلة مولد رسول الله صلی الله علیه وسلم ارتجس ایوان کسری وسقطت منه اربع عشرة شرافة وغاضت بحیرة ساوة ، الحدیث

دابومخزوم هانی په صحابی کیدو کې اختلاف دی ابوالولیدبن دباغ ابومخزوم هانی په صحابه ووکې ذکر کړی دی (۲)

اوحافظ ابن کثیر هم همدا حدیث په همدې سندسره دابوبکر خرائطي په حواله په البدایه والنهایه کې تر ارتجاس الایوان لاندی ذکر کړی دی (۳) اوپه خصائص کبری کې له دې پرته داروایت په یوبل سند سره هم ذکر دی چی دهغه ټول راویان ثقه دی (۴)

---

(۱) عیون الاثر لابن سید الناس جلد ۱ صفحه ۲۹)
(۲) الاصابه جلد ۱ صفحه ۵۹)
(۳) البدایه والنهایه جلد ۲ صفحه ۲۶۸)
(۴) خصائص کبری للسیوطی جلد ۱ صفحه ۵۱)

سیف لودین کتابتون

عن سعید بن مزاحم عن معروف بن خربوذ عن بشیر بن تیم ؓ قال لماکانت لیلة مولد النبی ﷺ رأی مؤبذان کسری خیلا وابلا قطعت دجلة القصر بطونها ، رواه عبدان فی کتاب الصحابه .حافظ عسقلانی ددې روایت له راوړلو وروسته وایې چې داروایت مرسل دی او ابن ابی شیبه بشیر بن تیم په صحابه وو کې شمیرل کیږی ، اصابه جلد ۱ صفحه ۱۸۰ ترجمه بشیر بن تیم ؓ (۱)
ددې سند لومړی راوی سعید بن مزاحم دی چې له ده څخه ابوداؤد او نسائی روایت نقل کړی دی دویم راوی معروف بن خربوز دی اوله ده څخه بخاری ،مسلم ،ابوداؤد او یو شمیر نورو روایتونه نقل کړی دی امام بخاری په کتاب العلم باب من خص بالعلم قوماًدون قوم صفحه ۲۴ کې دمعروف بن خربوز روایت دابوالطفیل عامربن واثله ؓ له لاری په خپل جامع کتاب صحیح البخاری کې درج کړی دی په صحابه کرامو ؓ کې ترټولو وروسته ابوالطفیل ؓ په کال ۱۰۰ هجری په مکه مکرمه کې وفات سوی دی معروف بن خربوز دمکی مکرمی اوسیدونکی کوچنی تابعی دی په صحیح بخاری کښې له معروف بن خربوز څخه یوائې یو روایت نقل سوی دی
مختصره خبره دادی چې داروایت مرسل دی خو ددې حدیث سند صحیح دی او مرسل حدیث داما م ابوحنیفه امام مالک اوداامام احمدبن حنبل رحمة الله علیهم دمشهور قول په بناحجت اودلیل دی لکه چې داصول حدیث په کتابو کې دایادونه سوی دی حافظ عسقلانی رحمة الله علیه دې حدیث ته په اصابه کې مرسل ویلی دی اودبخاری په شرح کی یې ددې روایت له راوړلو وروسته سکوت کړی دی له دې څخه معلومیږی چې دحافظ په نظر هم داحدیث موضوعی اوبی اصله نه دی دحافظ عسقلانی دبخاری په شرح کې په یو حدیث باندی سکوت کول دعلماء په نظر دهغه حدیث دصحیح او حسن کیدو دلیل دی لکه چې خپله حافظ عسقلانی دفتح الباری په مقدمه کښې ددې خبری یادونه کړی ده.
علامه شبلی په سیرت النبی ﷺ جلد /۱ /ص /۳۹ /کې لیکی څومره چې پوښتنی او سوالو نه زیاتیږ هغومره دمبالغی روایتونه جوړیدلای سی دمثال په ډول داروایت چې کله رسو ل الله صلی الله علیه وسلم پیداسو نود کسری دماڼی څورلس کنگری راولویدی دفارس دآتش کدی اورمړسو بحیره طبریه وچه سوه بیهقی ابونعیم خرائطي ابن عساکر او ابن جریر داروایت رانقل کړی دی مگر صحیح بخاری اوصحیح مسلم اودصحاح سته په هیڅ کتاب کې نه دې راوړل سوی ، ځواب : سبحان الله داددې حدیث دموضوع کیدو عجیب دلیل دی آیا دیو حدیث په بخاری اومسلم اوصحاح سته کې نه شتون دهغه دموضوع یاضعیف کیدو دلیل کیدای سی دادرسره منم چې اما م بخاری اوامام مسلم بیله شکه وشبه دصحی حدیث راوړل پرځان لازم کړی دی خودایې نه دی ویلی چې که موږ روایت

(۱) الاصابه جلد ۱ صفحه ۱۸۰

سیف لودین کتابتون

نه راوړي نوهغه موضوعي دي اوڅوک داسي ويلای سي امام بخاری اونوروهيڅ کله داد عوی نه دی کړی چی دصحيحنو ياصحاح سته څخه پرته هيڅ حديث صحيح اومعتبر نه دی بلکې داصولوپه کتابونوکي دامام بخاری رحمة الله عليه امام مسلم رحمة الله عليه څخه ددې خلاف خبره نقل سوی ده لکه چی امام بخاری رحمة الله عليه په خپله وايې :

قال البخاری مااورت فی کتابی هذا الاماصح ولقد ترکت کثيرا من الصحاح وقال مسلم الذی اوردت فی هذالکتاب من الاحاديث صحيح ولااقول ان ماترکت ضعيف

ژباړه : امام بخاری رحمة الله عليه فرمايې ماپه خپل کتاب کې له صحيح حديث څخه پرته بل حديث نه دی راوړی اوډېر صحيح حديثونه مي پرېښي هم دی امام مسلم رحمة الله عليه وايې کوم حديثونه چی ماپه دې کتاب کې راوړي دی هغه ټول صحيح دی زه دانه وايم چی کوم حديثونه چی ماپرې ايښي دی هغه ضعيف دی .

اوبل داچی د يوحديث په صحاح سته کې نه شتون دهيڅ محدث اوعالم په نظر دحديث دموضوع کيدو دليل نه دی بلکې خپله علامه شبلي په خپل سيرت کې په سلګونوداسي حديثونه راوړي دی چی نه په صحيح بخاری کې شته اونه په صحيح مسلم کې اونه دصحاح سته په کوم بل کتاب کې دهغوئ څه درک معلومېږی نوله دې معلومه سوه چی دا خبره خپله دعلامه په نزدهم منل سوی ده خوموږنه پوهېږو چی شبلي په څه وجه دا حديث غيرمقبول ګرزوی آيا بيله دليله له يوروايت انکارکول دادتحقيق اوتنقيد نوم دی طبرانی اوابونعيم اوابن عساکر په ډېروسندوسره له حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلي دی : دالله تعالی له عزتواومهربانيويوعزت دادی چی زه مختون(سنت کړل سوی) پيداسوم اوزماستر هيچا ونه ليدل

حافظ ضياأ لدين مقدسی په مختارکښي ودې حديث ته صحيح ويلي دی علامه زر کشي وايې دحافظ مقدسی تصحيح دحاکم ترتصحيح ډېره غوره اولوړه دی .

اوحافظ مغلطائی دې حديث ته حسن ويلی اوابونعيم په جيد سندسره له ابن عباس رضي الله عنه څخه داروايت نقل کړی دی (۱)

عباس رضي الله عنه فرمايې چی نبی کريم ﷺ مختون اونوم (نو) پری کړی پيداسو عبدالمطلب چی وليدی ډېر تعجب يې وکړاوداسي يې وويل چی زمادزوی به خامخا ډېرلوړشان وی لکه چی همداسي وو داروايت په طبقات ابن سعدجلد۱ صفحه ۶۴کې ذکر دی سنديې ډېر قوی دی .

اسحاق بن عبدالله رضي الله عنه له بی بی آمنه څخه روايت کوی چی کله نبی کريم ﷺ پيداسو نوډېر زيات پاک اوصفاء وو په پاک بدن يې هيڅ قسم ګندګی نه وه (۱)

---

(۱) زرقانی جلد ۱ صفحه ۱۲۴ جلد ۵ صفحه ۲۴۴

سیف لودین کتابتون

عقیقه او نوم

دزوکړی په اوومه ورځ (۱) عبدالمطلب دده مبارک عقیقه وکړه او په دې مراسمو کې یې ټولو قریشو ته بلنه ورکړه او محمد ﷺ نوم یې پر کیښودی قریشو وویل اې ابوالحارث تادانوم ولی غوره کړ سره له دې چې نه ستا دپلروا ونیکه ګانو او نه ستا په قوم کې تر اوسه پورې هیچانه دی ایښی ؟ عبدالمطلب وویل ماځکه دانوم غوره کړ چې الله ﷻ په اسمان کې او دالله ﷻ مخلوق په ځمکه کې ددې کوچنی ستاینه او صفت وکوی (۲) عبدالمطلب دنبی کریم ﷺ تر پیدا کیدو څه مخکې خوب لیدلی وو هغه خوب دمحمد ﷺ دنوم د ایښودلو باعث سو هغه داسی وو چې دعبدالمطلب له ژبی به یې واورونو موړی وایې زمادملاڅخه زنځیر راښکاره سو دهغه ځنځیریو سر په اسمان کې دی او بل سر یې په ځمکه کې وو او یو طرف یې په مشرق او بل طرف یې په مغرب کې وو څه وخت وروسته له دغه زنځیره لویه درخته جوړه سوه چې دهغې په هره یوه پاڼه باندی داسی رڼا وی چې د لمر تر رڼا اویا ۷۰ ځله زیاته وه دمشرق او مغرب خلک دهغې په ښاخلو پوری مښتی دی دقریشو څه کسانو هم ددې ونی ښاخلی نیولی وی او په قریشو کې څه کسان ددې ونی دپریکولو کوښښ کوی کله چې دوئ په دې شوم نیت دغې ونی ته راغلو نو یو ډیر ښائسته ځوان راغی او دوئ یې وشړل، دخوبو ترجمه کونکیو دعبدالمطلب ددې خوب داتعبیر وکړی چې ستا په نسل کې به یو داسی هلک پیدا کیږی چې له مشرق یا تر مغرب پوری خلک به دده تابع وی او داسمان او ځمکی خلک به دده ستاینه کوی په دې وجه عبد المطلب دده نوم محمد ﷺ کیښودی یعنی دعبدالمطلب خوب ددې نوم باعث سو (۳) له بلې خوا دده ﷺ مور ته دخوب په زریعه داسی وښودل سو چې ته دټول مخلوق په سردار او په ټولو خلکو کښی په غوره بنده باندی امیدواره یې دده نوم محمد ﷺ کښیږده او په یو روایت کې دی چې احمد نوم پر کیږده کذافی عیون الاثیر (۴) دبریده او ابن عباس رضی الله عنه په روایت کې راغلی چې محمد ﷺ او احمد ﷺ نوم یې کیږده ، خصائص کبری (۵)

---

(۱) داټوله قصه علامه زرقانی په شرح دموطا امام مالک رحمه الله جلد ۴ صفحه ۲۷۱ کې دابن عباس رضی الله عنه په روایت کې حافظ ابن عبدالبر د استیعاب په حواله ذکر کړی دی خودابن عباس رضی الله عنه په روایت کښي یواځی دعقیقه یادونه سوی داوورو ځویادونه نسته او نه دمیلمستیا یادونه پکی سته دادواړه شیان علامه سیوطی رحمه الله دبیهقی په حواله او ابن عساکر په خصائص کبری جلد ۱ صفحه ۵ کې یادکړی دی حافظ عسقلانی فرمایې چې عبدالمطلب دنبی کریم ﷺ دپیدا ایښښت په مراسمو کې لویه میلمستیا وکړه څه وخت چې خلک له میلمستیا خلاص سو نو پوښتنه یې وکړه چې اې عبدالمطلب تادخپل نیک بخته کوچنی څه نو م کیښودی ، ترآخره دحدیث پوری داروایت بیهقی په دلائل کې په مرسل سند سره یادکړی دی ، فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۲۴ باب مبعث النبی صلی الله علیه وسلم

(۲) روض الانف جلد ۱ /ص /۵، زرقانی جلد ۴ /ص /۲۷،)

(۳) طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۶۳

(۴) عیون الاثر جلد ۱ صفحه ۴۲)

(۵) خصائص کبری جلد ۱ صفحه ۵)

سیف لودین کتابتون

لنډه دا چې داالهام دښوخوبونو پرله پسې لیدلو دمور اونیکه دملګر اوخپلو اوپردو ټولو په ژبه هغه نوم خوښ کړچې په کوم نامه انبیاءاورسولانو علیهم السلام دده ﷺ دپیغمبری زیری ورکړی وو ..

لکه څرنګه چې عبدالمطلب په ټولوزامنو کې یواځې دده مبارک ﷺ دپلار داسی نوم خوښ کړی وو چې دالله ﷻ په نزد ترټولونومونوخوښ نوم یعنی عبدالله داهم یوالهامی خبر وو دغه رنګه دنبی کریم ﷺ نوم مبارک محمد اواحمد ﷺ ایښودل بیله شک اوشبهی دالله ﷻ له جانبه خبروو لکه چې علامه نووی په شرح مسلم کې له ابن فارس اوداسی نوروڅخه نقل کړی دی وایې چې الله ﷻ دنبی کریم ﷺ کورنۍ ته الهام وکړ ځکه یې دانوم پرکیښودی ، نووی شرح مسلم باب اسماء النبی صلی الله علیه وسلم (۱) اوهمدادوه مبارک نومونه الله رب العزت په قرآن کریم کې یاد کړی دی

(مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ (۲۹آیت سورة الفتح) : محمد دالله ﷻ رسول دی

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ (٦سورة الصف) ژباړه اوکله چې عیسی علیه السلام زوی د مریم وویل چې اې بنی اسرائیلوزه تاسوته دالله ﷻ له طرفه رالیږل سوی پیغمبر یم تصدیق کونکی یم دهغه کتاب چې زمامخکې دی چې هغه تورات دی اوزیری ورکونکی یم دداسی پیغمبر چې زماڅخه وروسته به راځي او دهغه نوم به احمد ﷺ وی .

دمحمد لفظ له تحمید څخه جوړدی تحمیدبیاله حمد څخه جوړدی حمدهغه غوره صفتونه ، چاته سوی .ستایل سوی. کامل پوره. اوربښتینی اوربښتینی غوره والی ، محبت ،اوعظمت ته وایې .تحمیددتفعیل دباب مصدردی ددې باب وضع دمبالغی لپاره سوی له دې لاری د محمد لفظ دتحمیداسم مفعول دی معنی به داوی هغه ښه صفت درلودونکي دی چې دهغه ربښتینی اواصلی کمالونه اوښه والی په محبت اوعظمت سره ډیرځله بیانیږی ،اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد وصحبه وبارک وسلم ..

اوځینی وایې چې دمحمد معنی دی هغه څوک چې په هغه کې ښه خویونه اوستایل سوی صفتونه په پوره معنی سره شتون لری

امام بخاری رحمة الله علیه په تاریخ صغیر کي فرمایې چې له علی بن زید څخه نقل سوی دی چې ابوطالب به داشعر لوستی : : وَشَقَّ لَهُ مِنْ اِسْمِهِ لِيُجِلَّهُ :::: ::: فَذُو الْعَرْشِ مَحْمُوْدٌ وَهَذَا مُحَمَّدٌ

(.فتح الباری جلد٦ صفحه ۴۰۲ باب ماجاء فی اسماء رسول الله صلی الله علیه وسلم)

داشعر دحسان بن ثابت رضی الله عنه په دیوان کې هم ذکر سوی دی کیدای سی توارد وی یاحضرت حسان رضی الله عنه دابوطالب په دې شعرتضمین کړی وی والله اعلم) زرقانی شرح مواهب)

(۱) نووی شرح مسلم جلد ۲ صفحه (۲۶)

سیف لودین کتابتون

احمد صیغه داسم تفضیل دی یو شمیر وایي په معنی د مفعول دی او نور بیا وایي په معنی د فاعل دی که احمد په معنی د مفعول سی نو د احمد معنی به داسی وشی چی تر ټولو ډیر ستایل سوی رښتیا هم په ټول مخلوق کې ترده مبارک ﷺ څوک ډیر نه دی ستایل سوی اونه د بل چا دومره صفات بیان سوی دی

او که معنی د فاعل شی نو احمد معنی به داسی شی چی په مخلوق کې تر ټولو ډیر د الله ﷻ حمد او ثناویونکی دی دا هم ډیره صحیح معنی دی ځکه په دنیا کې نبی کریم ﷺ او دده امت د الله داسی ثناء بیان کړه چی هیچا هم نه دی بیان کړی له همدې وجهی به مخکې پیغمبرانو علیهم السلام د نبی کریم ﷺ د راتلو زیری د احمد په نامه ورکوی اودده د اُمت زیری یې د حَمّادِيْنُ په نامه سره ورکړی دی او دا ډیر مناسب هم دی الله تعالی احمد ﷺ ته سورة الحمد ورکړی دی اوله خوراک او څیښاک اوله سفر څخه د راستیندو وروسته اوپه هره دُعاکی یې دته اودده امت ته د حمد او ثنا لوستلو حکم کړی دی او په آخرت کې د شفاعت پر وخت به په محمد ﷺ باندی د الله ﷻ له لوری د الله ﷻ هغه محامد او هغه صفتونه او ستاینی ښکاره کیږی ، چی نه په کوم پیغمبر باندی اونه په کومه ملکه باندی ښکاره سوی دی له دې کبله به د قیامت په ورځ محمد ﷺ ته مقام محمود اولواء حمد (د حمد بیرغ) ورکول سی دغه وخت به ټول مخکې تیرسوی اوراتلونکې خلک چی د حشر ګاه په میدان کې رایوځای سی د محمد ﷺ صفت او ستاینه کوی خلاصه دا دی چی د حمد ټولی معنی ګانی او قسمونه د محمد ﷺ لپاره خاص کړل سوی دی په الهی کلماتو او نبوی لارښودنو کې له فکر کولو وروسته دا معلومیږی چی د الله ﷻ حمد او ثنا د هر کار له کولو وروسته ډیر ښه اوغوره عمل دی الله ﷻ فرمایي :

(وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيلَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٧٥) آیت سورة الزمر)

ژباړه : د دوئ په مینځ کې د حق پریکړه و سوه او وویل سو الحمد لله رب العالمین

وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (١٠) سورة یونس) فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٤٥) آیت سورة الانعام)

ژباړه : د جنتیانو اخری دعا به دا وی حمد او ثناء دی وی الله ﷻ لره د ظالمانو ریښې پری سوی او حمد او ستاینه دی وی الله ﷻ لره ،

له خوراک او څیښاک وروسته الله ﷻ د حمد او شکر حکم فرمایلی دی لکه چی الله ﷻ فرمایي (كُلُوا مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوا لَهُ (١٥ آیت سورة سبا) د الله ﷻ روزی خوری او شکر کاږی .

او نبی کریم ﷺ د شکر تفسیر په حمد سره کړی دی لکه چی په حدیث شریف کی راغلی دی (افضل الشكر الحمد لله) بهترین شکر د الله حمد ویل دی ،،

سیف لودین کتابتون

اوله خوراک کولووروسته د الحمد لله ویلو په وراوار سره حکم سوی دی کله چی به نبی کریم ﷺ له سفره راستون سو وداد عابه یې لوستله : (آئبون تائبون عابدون لربنا حامدون)
ژباړه :موږ الله ته روجوع کونکي اوتوبه کښونکی اودخپل پالونکی ذات عبادت کونکي یو حمداوثناء ویونکي یو ..
اوکله چی به یې لمونځ پوره کړنودا آیت کریمه به لوستی :﴿
سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ(۱۸۰)وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ(۱۸۱)وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (۱۸۲) آیت سورة الصافات)
له قرآنی آیاتو اونبوی احادیثو دامعلومیږی چی حمدد کار له پوره کولووروسته وی له دې امله الله ﷻ د نبی کریم ﷺ مبارک نوم محمد ﷺ او احمد ﷺ کیښودی ودې ته اشاره وه چی نورنونبوت اورسالت اووحی پای ته ورسیده درسول کریم صلی الله علیه وسلم ددې دواړو نومونو محمد ﷺ واحمد ﷺ داټوله بیان دعلامه سهیلی (۱) اودحافظ ابن حجر عسقلانی له خبروڅخه راخیستل سوی دی په بخاری اومسلم کې دجبیر بن مطعم ؓ څخه روایت سوی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل زماپنځه نومونه دی ، زه ، محمدیم ، زه احمدیم ، زه ماحی یم یعنی کفر ختمونکي یم ، زه حاشِریم یعنی خلک به زماپرقدموراروان وی زه به مخکې یم له قبر څخه اول زه پورته کیږم یادامعنی چی نبی کریم ﷺ به دقیامت په ورځ دخلکو امام اوپیشوا وی اوټول به دده محتاج وی (۲)
اوزه عاقب یم ، یعنی له ټولوانبیاء علیہم السلام څخه وروسته راغلی یم ، بخاری ترمذی اونوروکې داالفاظ دی :انا العاقب الذی لیس بعدی نبی . زه عاقب یم یعنی له ماوروسته هیڅ پیغمبر نسته ، امام مالک رحمۃ اللہ علیہ فرمایې چی دعاقب معنی داده ، الذی ختم الله به الانبیاء : چی په ده سره الله تعالی دانبیاء علیہم السلام سلسله ختمه کړله ،،
سفیان فرمایې دعاقب معنی دی آخر الانبیاء علیهم السلام (۳)
دنبی کریم ﷺ نورهم ډیر نومونه دی خوپه دې حدیث کښې یې دپنځو خاصیدل په دې وجه دی چی دنبی کریم ﷺ خاص نومونه اودمخکې پیغمبرانو علیہم السلام په صحیفو کښې ډیر مشهور همداپنځه نومونه دی :
حافظ ابن سید الناس په عیون الاثر کې وایې (۴) چی الله ﷻ دعربو اوعجموپه زړو و

---

(۱) علامه سهیلی رحمۃ اللہ علیہ په روض الانف شرح سیرة ابن هشام صفحه ۱۰۶ کی ذکر کړی دی اوحافظ عسقلانی په فتح الباری جلد ۶ صفحه ۴۰۳ باب اسماء النبی صلی الله علیه وسلم کښې ذکر کړی دی)
(۲) مصفی شرح موطاء للشاه ولی الله الدهلوی جلد ۲ صفحه ۲۸۵)
(۳)زرقانی شرح موطا جلد ۴ صفحه ۲۰۲)
(۴) حافظ عسقلانی وایې په کومو روایتوکې چی له عاقب وروسته الذی لیس بعده نبی راغلی دی په دغه روایتونوکې دالذی لیس بعده دزیاتیدو احتمال سته خودترمذی په روایت الذی لیس بعدی په صیغه دمتکلم سره دزیادت احتمال نسته ، فتح الباری جلد ۶ صفحه ۴۰۶ باب ماجاء في اسماء رسول الله ﷺ)

اوژبوباندی داسی مهرونه ولګول چی دمحمد او احمد نوم ایښودلو ته دهیچا پام نه سو له دې کبله قریشو په ډیر تعجب له عبدالمطلب څخه پوښتنه وکړه چی تادغه نوم ولی داسی نوی نوم خوښ کړسره له دې چی نه ستاپه قوم کې شته اونه ستاپه نیکه ګانو کې دنبی کریم ﷺ له مبارکی زوکړې لږ مخکې چی کله خلکو دبنی اسرائیلو د علماء له خولی څخه واوریدل چی ډیر ژر به یو پیغمبر علیه السلام دمحمد او احمد په نامه پیداسی نوځه خلکو په همدی اُمید باندی دخپلو اولادو نوم محمد کیښودی خو دالله ﷻ رضا او حکم ووچی یوه هم په دوئ کې دپیغمبری دعوی ونه کړه ددې لپاره چی دمحمد مصطفی او احمد مجتبی صلی الله علیه وسلم په نبوت اورسالت کې هیڅ شک اوشبه پاته نه سی شبه که موتفصیل په کاروی نوفتح الباری جلد ۶ صفحه ۴۰۴ صفحه ۴۰۵ اوصفحه ۴۰۶ وګوري.

کُنیت : دنبی کریم ﷺ ترټولو زیات مشهوراسم کنیه ابوالقاسم (صلی الله علیه وسلم) دی چی دنبی کریم ﷺ دمشرزوی قاسم په نامه باندی دی

دویم کنیه اسم یې ابو ابراهیم ﷺ دی ،له انس رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چی کله دماریه قبطیه رضی الله عنها له نس څخه ابراهیم پیداسو نوجبرئیل علیه السلام دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضر سواو دایې وفرمایل (السلام علیک یا ابا ابراهیم) سلام دی وې پرتا باندی اې دابراهیم پلاره (۱)

خُتنه (سنت کیدل) دسنت کیدلو په اړه درې قوله دی یوقول دادی چی نبی کریم ﷺ سنت کړل سوی پیداسو حاکم وایې چی دهغه ﷺ دسنت پیداکیدو متواتر احادیث موجو ددی دویم قول دادی چی دنبی کریم ﷺ نیکه عبدالمطلب دده ﷺ دپیداکیدو په اوومه ورځ هغه سنت کړ په عربو کې دارواج دابراهیم علیه السلام اواسماعیل علیه السلام دشریعت برابر ووچی کوچنی به یې دهغه دزوکړی په اوومه ورځ سنت کوی ،،

دریم قول دادی چی دحلیمه سعیده کره هغه سنت سو اوداقول ضعیف دی مشهور او معلوم اول دوه قوله دی اوپه دې دواړو قولو کې تطبیق هم کیدای سی هغه داسی چی نبی کریم ﷺ سنت کړل سوی پیداسو خودسنت کیدو پوره والی عبدالمطلب وکوی.

په ماشوم والی کې پالنه اوشیدی ورکول

دنبی کریم ﷺ ترپیداکیدو وروسته تردې یاځلورورځوپوری دده مور مبارکی دته تی ورکړی دی اودده داکا ابولهب ازادی سوی مینځی ثویبه هم هغه ﷺ ته تی ورکړی.

دنبی کریم ﷺ پراکا ابولهب باندی چی کله ثوییبه دوراره دپیداکیدو زیری وکوی نو ابو لهب ددې دزیری په بدل کې ثوییبه ازاده کړه اوهمدې ثوییبه دنبی کریم ﷺ څخه مخکې د نبی کریم ﷺ آکا حمزه رضی الله عنه ته هم تی ورکړی وو له دې وجهی حمزه رضی الله عنه دنبی کریم ﷺ رضاعی ورور دی اوترنبی کریم ﷺ وروسته ثوییبه ابوسلمه ته تی ورکړی دی ،زرقانی جلد ۱ صفحه ۱۳۷)

(۱) مستدرک حاکم جلد ۲ صفحه ۶۰۴)

سیف لودین کتابتون

په صحيح بخاری کې له ام المؤمنين ام حبيبه رضي الله عنها څخه روايت سوی دی چې ما يوه ورځ له رسول الله ﷺ وسلم څخه پوښتنه وکړه چې ما اوريدلی دی چې ته غواړی دابو سلمه رضي الله عنه له لور سره واده وکوی نبی کريم ﷺ دتعجب په ډول وفرمايل چې دابو سلمه رضي الله عنه له لور سره چې زما په پالنه کې دی که چيری دُرّه هغه چې زما رَبيبه (١) نه وی نو بيا هم زما لپاره نه ده روا ځکه هغه زما رضاعی وريره کيږی ما او ددې پلار ابو سلمه رضي الله عنه ته ثويبه تی راکړی دی (٢)

له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت سوی دی چې ده له نبی کريم ﷺ څخه غوښتنه وکړه چې ته که دحمزه رضي الله عنه له لور سره نکاح وکوی نو څنګه دی نبی کريم ﷺ وفرمايل چې هغه زما رضاعی وريره دی ځکه حمزه رضي الله عنه زما رضاعی ورور دی.

دثويبه په اسلام راوړلو کې دعلماء اختلاف دی حافظ ابن منده ثويبه په صحابياتو کې ذکر کړی ده والله سبحانه وتعالی اعلم) فتح الباری جلد ۹ صفحه ۱۲۴) کتاب النکاح (٣)

نبی کريم ﷺ به دثويبه ډير عزت کوی له خديجه رضي الله عنها سره ترنکاح کولو وروسته ثُويبيه د دوئ په خذمت کې حاضريدلهٔ ،

له هجرته وروسته له مدينې منوری څخه به کله ناکله نبی کريم ﷺ ددې لپاره تحفی راليږلی څه وخت چې مکه مکرمه فتح سوه نو نبی کريم ﷺ دثوييبه او دهغې دزوی مسرور پوښتنه وکړه يو چاورته وويل چې هغه دواړه وفات سوی دی بيايې وفرمايل چې په خپلو خپلوانو کې يې څوک ژوندی سته چې له هغه سره ښه سلوک وسی خو په خپلو خپلوانو او نژدی قريبانو کې يې هم څوک نه وو پاته

له مرګه وروسته ابو لهب چا په خوب وليدی چې ډير بدحال يې دی (۴) پوښتنه ځنی وسوه چې څه حال دی دی ؟ ابو لهب وويل ما له تاسو وروسته هيڅ خوشالي نه دی ليدلی خو يوائې دومره چې دثوينبه دازاديدو په وجه دګوتی دسر په انداز اوبه راکول کيږی

علامه سهيلی رحمة الله عليه فرمايې يو ځل عباس رضي الله عنه ابولهب په خوب وليدی چې ډير په بدحالت کې دی او وايې چې ماترتاسو وروسته هيڅ خوشالی نده ليدلی مګر داچې هره دوشنبه په عذاب کې څه سپکوالی راځي ، فتح الباری جلد ۹ صفحه ۱۲۴)

له ثويبه وروسته حليمه سعيده ونبی کريم ﷺ ته تی ورکوی په عربو کښې دارواج وو چې شريفو خلکو به خپل کوچنی دتی ماشومان له کوچنيوالی څخه کليو او صحراته ليږل ځکه دکليو او صحرا هوا ښه صفا او پاکه وی او ښي پاکی اوبه د دوئ په پالنه او روغتيا ښه اثر

---

(١) (ربيبه) بچندره ، دښځي هغې لورته وايې چې له مخکې ميړه څخه يې وی)
(٢) ابو سلمه رضي الله عنه دام سلمه رضي الله عنها مخکې ميړه دی دابو سلمه رضي الله عنه له مرګه وروسته ام سلمه رضي الله عنها دنبی کريم ﷺ په نکاح کړه ، منه عفا
(٣) بخاری ابواب النکاح جلد ۲ صفحه ۲۶۴)
(۴) داخوب ليدونکی ابن عباس رضي الله عنه وو دابولهب له مرګه يو کال وروسته يې وليدی) البدايه والنهايه

سیف لودین کتابتون

کوی اوژبه به یې هم ښه فصیح عربی سوه او اصلی تمدن او عربی خوی د ښوونی لپاره به یې لیږل لکه چی عمر فاروق رضی الله عنه داسی فرمایې (تمعددوا و تمعززوا واخشو شنوا)(۱)
د معد بن عدنان شکل او هیئت غوره کوی یعنی د عجمو جامه او د دوئ شکل مه غوره کوی او پرسختیو باندی صبر کوی او غټی جامی اغوندی یعنی په عیاشی مه اخته کیږی.
ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو ځل پوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ ستاژبه ډیره فصیح ده نبی کریم ﷺ وفرمایل، بلی زه خوله قریشو څخه یم او بنی سعد ماته شیدی راکړی دی (۲)
د همدې دود برابر به هر کال د بنو سعد ښځې د تی د ماشومانو په لټه کې مکی ته راتلی، حلیمه رضی الله عنها وایې زه او د بنی سعد قبیلی څو نوری ښځې د ماشومانو په لټون کې مکی مکر می ته راغلو له ماسره زما میړه او یو د تی ماشوم هم وو د سپرید و لپاره یوه ډنګره خواره خره او یوه او ښه وه او ښه مو ییخی وچه وه یو څاڅکي شیدی یې هم نه کولی، موږ به ټوله شپه په لوږه تیروله ماشوم به ټوله شپه د لوږی په وجه ژړل خو زما په سینه کې دومره شیدی نه وی چی ماخپل ماشوم په موړ کړی وای، زما ملګرو ښځو ماشومان پیدا کړه یوه ښځه هم پاته نه سوه چی وهغې ته دی نبی کریم ﷺ نه وی وړاندی سوی مګر کله چی به خبره سوه چی دا ماشوم یتیم دی نو سمدستی به یې انکار وکوی دوئ به ویل چی د چاپلار مړوی نو د هغه د خدمت بدله به څوک ورکوی هیڅوک په دې نه پوهیدل چی دا یتیم نه دی بلکې دُرِ یتیم دی او دا هغه مبارک کوچنی دی چی دده په لاسو کې د قیصر او کسری د خزانو کلیانی ایښودل سوی دی که څه هم په دنیا کې څوک دده مرستندوئ او پالونکي او د خدمت بدله ورکونکی نه وو خو هغه رب العالمین چی دده په لاس کې د ټولی دنیا د ځمکی او اسمانو بیشمیره خزانی دی هغه ددې یتیم مرستندوئ او متولی دی او دده پالونکو او تربیه کونکو ته تر اټکل زیات د خدمت ښه بدله ورکوی.
زما ټولو ملګرو ښځو ماشومان پیدا کړه یوازی زه خالی لاس پاته سوم کله چی د کوچیدو وخت راغلی نو ماته خالی لاس تګ ډیر ګران سو ناڅاپه زما په زړه کې غیبی د دغه یتیم کوچنی د اخیستلو ډیره مینه او ډیره تلوسه پیدا سوه ماخپل خاوند ته وویل :(والله لاذهبن الی ذلک الیتیم فلآخذنه قال لاعلیک عسی الله ان یجعل لنا فیه برکة) ژباړه : په الله جل جلاله قسم زه به خامخا د دغه یتیم خواته ورځم او هغه به ځنی اخلم میړه یې ورته وویل که ته داسی وکوی نو څه باک نسته امید دی چی الله تعالی به موږ ته دا ماشوم د خیر او برکت سبب جوړ کی .

(۱) حافظ ابن اثیر د عمر فاروق رضی الله عنه دا اثر همدا مطلب بیان کړی دی کوم چی موږ په خپله ترجمه کښی بیان کړ ابن اثیر فرمایې چی د عمر فاروق رضی الله عنه دا اثر په معجم طبرانی کې د ابو حدر اسلمی رضی الله عنه څخه مرفوعا روایت سوی دی یعنی دا کلام د نبی کریم ﷺ ارشاد دی ، نهایه
(۲) روض الانف [illegible]

سیف لودین کتابتون

برکت په لغت کې دالهي خیر نوم دی یعنی دهغه خیر اوښیګڼې نوم دی کوم چې سیده دالله ﷻ له لوری نازل سی اوښکاره اسباب اولاملونه دخل نه کې لري (کذافی المفردات للامام الراغب) په یوحدیث قدوسی کی راغلی دی چی الله ﷻ فرمایې (اناعندظن عبدی) زه دبنده دګمان مطابق له هغه سره معامله کوم ،،

الله ﷻ ددوئ دهیلی برابر په دوئ باندی دبرکتونودروازه خلاصه کړه دبنی سعد قبیلی نورو ښځوله مخلوق هیله درلوده خوحلیمی اوخاوندیې خپلی هیلی له خالق سره وتړلی. حلیمه وایې کله چی مادایتیم ماشوم راواخیستی سمدستی زماوچ تی له شیدوډک سو دومره شیدی په کښي راغلی چی دواړه ماشومان په ماړه سو یودریتیم اوبل دحلیمی خپل زوی وو. حلیمه وایې کله چی داوښي ولوشلوته ولاړه سوم که ګورم داوښي تی هم له شیدو ډک سوی دی ، مااوخاوند مې ښه په مړه خیټه شیدی وڅیښلی شپه موډیره په آرام تیره کړه کله چی سهار سو نوخاوندراته وایې :

(تعلمی والله یاحلیمة لقداخذت نسمة مبارکة) اې حلیمی ځان ښه پوه کړه په الله ﷻ قسم تاخوډیر زیات مبارک ماشوم رااخیستی دی .

حلیمه وویل : (والله انی لارجو ذلک) په الله ﷻ قسم زه هم همدا هیله لرم

اوس دقافلی دروانیدو وخت سوخلک سپاره سو ماهم مبارک ماشو م له ځان سره وا خیستی سپره سوم زماهغه خواره ډنګره سپرلۍ چی مخکې می په وهلوډبولوروانه کړې وه اوس دبریښنا په څیرتیزه روانه وه اودهغې وهلویاتکیه کولوته هیڅ اړتیانه وه ځکه اوس هغه دپیغمبر ﷺ سپرلۍ وه زما ملګرو ښځو پوښتنه وکړه اې حلیمی داهم هغه مخکنۍ سپرلۍ ده په الله ﷻ قسم اوس خو[illegible]رلۍ دمخکې په څیرنه ده په دې طریقه موږ بنی سعدته ورسیدو په همدې وخت کې دبنو سعد پرقبیله داسی وچکالی راغله چی دځمکی پرسربه داسی وچکالی نه وې راغلی زمابزی به چی کله دورشوڅخه بیرته راغلی نوتی به یې له شیدو څخه ډک وواودنوروخلکو بزی اوپسونه بیخی وږی وو اوپه غولانځوکې به یې یوڅاڅکی شیدی هم نه وی ..

خلکو چی داحالت ولیدی نوخپلوشپونیانوته یې ویل تاسوهم هغه ځای ته مالونه ورولی کوم ځای چی دحلیمی بزی اوپسونه پیول کیږي شپنیانوهم همداسی وکړه مګر بیا هم هغه رنګه وو چی ماښام به زما بزی مړی اوله شیدو ډکی راتلی اودنوروخلکو بزی به وږی راتلی په غولانځو کې به یې یو څاڅکی شیدی هم نه وی ،

حلیمه وایې : الله ﷻ موږ ته دخیراوبرکت دروازی خلاصی کړی اوموږ دالله ﷻ له لوری

داخیراوبرکت په خپلوسترګولیدی (۱)په همدې طریقه چی کله دوه کاله پوره سو نونبی کریم ﷺ ماله تی څخه منع کړ (۲)
کله چی دوه کاله پوره سو نوحلیمی نبی کریم ﷺ له ځان سره واخیستی اومکی ته راغله ددې لپاره چی آمنه ته خپل امانت وسپاری دمبارک ماشوم په وجه دالله تعالی برکتونه پردوئ نازلیدل ځکه حلیمی له آمنی غوښتنه وکړه چی دامبارک ملغلره دڅو ورځو دپاره له ماسره پریږده .له یوی خوا په مکه کې وباءوه اوله بل لوری دحلیمی بی حده ټینګار هم وو له دې کبله بی بی آمنه دحلیمی غوښتنه ومنله اوحلیمه ته یې مبارک ماشوم بیرته وسپاری حلیمه هم مبارک ماشوم بیرته له ځان سره واخیستی اوبنی سعد ته ستنه سوه له څو میاشتو تیریدو وروسته هغه مبارک ماشوم (زمامور اوپلاردی ترده قربان وی) دخپلو رضاعی وروڼو سره په ځنګله کې بزی اوپسونه پیول چی شق صدرپیښ سو ..

شق صدر یعنی دسینی څیرل

یوه ورځ نبی کریم ﷺ له خپلو رضاعی وروڼوسره په ځنګله کې بزی پیولې چی ناڅاپه دنبی کریم ﷺ رضاعی وروړپه منډه کورته راغلی اووې ویل چی دوه تنه چی سپینی جامی یې په تن وی راغلواوزموږ قریشی ورور یې په ځمکه وپرځویاونس مبارک یې ورڅیری کړاوس هغه بیرته ګنډی ، ددې قصی له اوریدوسره سم دحلیمی دخاوندعقل ولاړی په منډه ځنګله ته راغلی وې لیدل چی هغه مبارک ماشوم په یوځای کې ولاړی دی اودمخ مبارک رنګ یې بدل سوی دی ، حلیمه وایې ماسمدستی هغه په سینه پوری ونیوی اوبیادهغه رضاعی پلار هغه په سینه پوری ونیوی اوپوښتنه موځینی وکړه چی څه پیښه دی ده مبارک بیان راته وکوی حلیمه وایې ما له ځان سره کورته راوستی (۳) ددې روایت راوی ابویعلی اوطبرانی دی اورجال یې هم ثقات دی .
دسینی دڅیری کیدلو پیښه دنبی کریم ﷺ په ژوند کې څلور ځله سوی یوځل دماشوم والی په وخت کې کله چی هغه دحلیمه سعیدی په پالنه کې وو اودده مبارک عمر څلور کاله وو یوه ورځ په ځنګله کې دوو ملائکه وو چی یوجبرئیل اوبل میکائیل وو ددوه سپینوجامو والاسړو په شکل کې دسروزرو یوه پیاله له واوری ډکه را اخیسته وه

(۱) دحلیمی داټوله قصه په سیرت ابن هشام کې یاده سوی یوازې الفاظ یې مختلف دی یو روایت دبل روایت دالفاظو ترجمه دی چی هغه علامه سیوطی په خصائص کبری جلد ۱ صفحه ۵۴ کې دمحمدبن اسحق اوطبرانی اوبیهقی په حواله نقل کړی دی الفاظ دادی (فلم یزل الله یرینا البرکة وتعرفها (اودسیرت ابن هشام الفاظ دادی (فلم نزل نتعرف من الله الزیادة والخیر) موږ دواړه سره یوځای کړه اوترجمه موځنی وکړه ، حافظ ابن کثیر فرمایې چی داحدیث په ډیرو طریقو سره نقل دی اودادهغه احادیثو څخه دی چی دسیرت اومغازی خاوندانوترمینځ مشهور اوګرزیدونکی دی ، البدایه والنهایه جلد ۲ صفحه ۲۷۵)
(۲) سیرت ابن هشام جلد ۱ صفحه ۵۶ دارنګه مجمع الزوائد جلد ۸ صفحه ۲۲۱)
(۳) سیرت ابن هشام جلد ۱ صفحه ۵۲ مجمع الزوائد جلد ۸ صفحه ۲۲۱)

سیف لودین کتابتون

اوراښکاره سواودده مبارک خیټه یې وڅیرله زړه یې راوایستی بیایې زړه څیری کی اودهغه څخه یې دیوځای سوی وینی یوه یادوی ټوټې وایستلې اووې فرمایل چې دادشیطان برخه وه بیایې خیټه اوزړه په دغه پیاله کې کیښودل اوپه واوره یې پریولل وروسته یې بیرته زړه په خپل ځای کې کیښودی او سینه یې وروګنډله او ددواړواوږ و ترمنځ یې مهرنبوت ولګاوو دحلیمی سعدیه دپاللو په وخت کې دسینه څیرلو پیښه په مختلفوروایتوسره له صحابهؓ وڅخه نقل سوی

لومړی روایت دعتبه بن عبدؓ دې چی په مسند احمد اومعجم طبرانی کې ذکر دی (١) دعتبهؓ دروایت دحاکم په کتاب مستدرک کې هم یاد سوی دی (٢) حاکم فرمایې چې دعتبه داحدیث دمسلم په شرط دی ، حافظ ذهبی دمستدرک په تلخیص کې دحاکم تصحیح نه دی ردکړی ، علامه هیثمی دعتبه درروایت له راوړلووروسته وایې : رواه احمد والطبرانی واسناداحمدحسن (٣)

دویم روایت دابوذرؓ دی چی په مسند بزار، اودارمی اویوشمیر نوروراوړی دی علامه زرقانی وایې چی دابوذرؓ دحدیث په صحیح کیدوکې هیڅ شک نشته ځکه حافظ ضیاء الدین مقدسی په مختارکې ودې حدیث ته صحیح ویلی دی اوعلماء تصریح کړی ده چی دحافظ مقدسی تصحیح دحاکم ترتصحیح ډیره دباور وړاومستنده ده (۴)

دابوذرؓ دروایت په دلائل ابی نعیم کې هم یادسوی دی اوحافظ عسقلانی په فتح الباری کښې لیکی چی دابوذرؓ حدیث په مُسند احمد اودلائل بیهقی کې ذکردی (٥)

---

(١) حدیث عتبه بن عبدالسلمیؓ اخرجه احمد والطبرانی وغیرهما عنه انه سأل رسول اللهﷺ کیف کان بدء امرک فذکر القصة فی ارتضاعه فی بنی سعد وفیه ان الملکین لما شقا صدره قال احدهما للآخر خط فخاط وختم علیه بخاتم النبوة ، فتح الباری جلد ٦ صفحه ۴٠٩ باب ختم النبوة)

(٢) ددې روایت په سند کې یو راوی بقیه بن الولید دی چی دده په وجه یوشمیر مصنفینوته ددې حدیث دمسلم په شرط کیدو کې شک شته ، عبدالله بن مبارک یحی بن معین ، ابوزرعه عجلی ، اوابن سعدلیکی چی بقیه بن الولید خپله ثقه دی که له ثقات روایت وکوی نودده روایت معتبر دی ، اوکه نه نو نه دی معتبر امام نسائی فرمایې چی بقیه بن ولید که حدثنا اواخبرنا وویل نومقبول دی اوکه په عن سره روایت وکوی نوهغه نه دی معتبر، تهذیب جلد ١ صفحه ۴٧۴ ،، ۴٧٥) داښه یاد ساته چی داروایت مذکوره په تلخیص کې که څه هم په طریقه دعن سره دی مګر په مستدرک کې په طریقه دحدثنا اواخبرنا سره روایت سوی دی ، حدثنا بقیه بن الولید قال حدثنی بحیر بن سعد عن خالد بن معدان عن عتبه بن عبدالسلمی ، اودبقیه داروایت له ثقه څخه روایت کړی له مجهول یاضعیف راوی څخه یې نه دی روایت کړی ځکه بحیر بن سعد چی بقیه بن الولیدروایت څنی کړی دی احمد بن حنبل اوعجلی اوابن سعد اونسائی اوابوحاتم اوابن حبان دبحیربن سعدتوثیق کړی دی ، تهذیب جلد ١ صفحه ۴٢١)

(٣) دعلامه زرقانی الفاظ دادی ، قلت لاشک فی صحة اسناده فقد صححه الضیاء وقدقال العلماء ان تصحیحه اعلی من تصحیح الحاکم ، زرقانی جلد ١ صفحه ١٦١)

(۴) زرقانی جلد ١ صفحه ١٦)

(٥) بیهقی جلد ٦ صفحه ٩، ۴)

سیف لودین کتابتون

دریم روایت : دانس بن مالک ﷛ دی چی په طبقات ابن سعد کې یادسوی دی چی دهغه ټول راویان دبخاری اومسلم ثقه اومستند راویان دی (۱)

څلورم روایت : دابن عباس ﷛ څخه نقل سوی دی چی علامه سیوطی په حواله دبیهقی اوابن عساکر په خصائص کبری کې ذکر کړی دی (۲)

پنځم روایت : دشداد بن اوس ﷛ څخه نقل سوی دی چی حافظ عسقلانی په فتح الباری باب ختم النبوة کې اوعلامه زرقانی په شرح مواهب جلد ۱ صفحه ۱۵۰ کې دمسند ابویعلی اودلائل ابونعیم په حواله ذکر کړی دی (۳)

شپږم روایت : دخالد بن معدان تابعی رحمة الله علیه دی چی په طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۹۶ کې مرسلاً ذکر سوی دی خود محمد بن اسحاق دسند په سلسله کې ذکر سوی دی او خالد بن معدان کلاعی وایې چی دصحابه کرامو ﷺ یوی ډلی ماته دسینې څیرلو پیښنه بیان کړه الخ (۴) سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۱۷۵ حافظ ابن کثیر دمحمد بن اسحاق ددې روایت نقل کولووروسته فرمایې : هذا اسناد جید قوی (۵)

دابن عباس ﷛ اوشداد بن اوس اوخالد بن معدان روایتونه دیوشمیر راویانو دضعف په وجه که څه هم ځان ته ځان ته ضعیف دی مګر روایت له ډیرولارو راوړل دحدیث په

---

(۱) هغه روایت دادی : اخبرنا یزید بن هارون وعفان بن مسلم قالا نا حماد بن سلمة عن ثابت عن انس ﷛ بن مالک ان رسول الله ﷺ کان یلعب مع الصبیان فاتاه آتٍ فاخذه فشق بطنه فاستخرج منه علقة فرمی بها وقال هذا نصیب الشیطان منک ثم غسله فی طست من ذهب من ماء زمزم ثم لائمه فاقبل الصبیان الی ظئره قتل مُحمد فاستقبلت رسول الله ﷺ وقد انتقع لونه قال انس فلقد کنا نری اثر المخیط فی صدره ، طبقات ابن سعد باب علامات النبورة قبل الاسلام ، جلد ۱ صفحه ۹۷)

(۲) خصائص کبری جلد ۱ صفحه ۵۵)

(۳) شرح مواهب جلد ۱ صفحه ۱۵۰)

(۴) دابوهریرة ﷛ داحدیث حافظ عسقلانی په فتح الباری جلد ۱۳ باب ماجاء فی قوله عزوجل وکلم الله موسی تکلیما ، کې ذکر کړی دی)

(۵) دعائشه صدیقه ﷞ روایت چی په دلائل ابونعیم کې ذکر سوی دی ددې په سند کې دوه متکلم فیه راویان دی یو یزید یابنوس دی ، ابوحاتم وایې چی یزید یانبوس نامعلومه دی مګر دارقطنی وایې دده دروایت دراوړلو باک نسته یعنی ښه راوی دی اوابن حبان په ثقاتو کښې ذکر کړی دی ، تهذیب جلد ۱۱ صفحه ۳۱۶ حافظ مزی په تهذیب الکمال کې لیکی چی ذکر ابن حبان فی الثقات وروی له البخاری فی الادب وابوداؤد والترمذی فی الشمائل والنسائی ، تهذیب الکمال جلد ۷ صفحه ۲۲۱) دویم هغه راوی چی خبری کې سوی دی داؤد بن المجر د دی نوموړی ته یوشمیر علماء دروغجن ویلی دی خویحی بن معین لیکی ثقه دی دروغجن نه دی ابوداود وایې ثقه دی مګر دضعیف سره مشابه دی ، نسائی فرمایې ضعیف دی ، تهذیب جلد ۳ صفحه ۱۹۹ بهرحال ددې حدیث سند دلابأس به څخه په هیڅ طریقه کم نه دی خصوصاً بیاکله چی دابوداؤد طیالسی سند هم له ده سره ملګری سی نونور قوت ورځي ، لمه دې کبله حافظ ابن ملقن او حافظ عسقلانی له دې روایت څخه په ثبت لفظ سره تعبیر کړی دی ، دحافظ ابن ملقن الفاظ دادی ، وثبت شق الصدر ایضا عند البعثة کما اخرجه ابونعیم فی الدلائل اودشرح بخاری جلد ۷ صفحه ۳۸۷ اودعسقلانی الفاظ دې ته نژدی بلکې همدادی ،،

سیف لودین کتابتون

ضعف کې کمی راولی دویم داچې کوم ضعیف روایت چې له ډیرو صحابه رضی الله عنهم وو په بیلا بیلو سندونو سره نقل سی نو دا حدیث بیله شکه دصحیح حدیث تائید کونکی کیدای سی او دڅو ضعیفو حدیثو په یوځای کیدو سره دصحیح حدیث په صحت او توثیق کې زیادت راولی ، او پاته سوه داخبره چې دمعراج په سلسله کښې دکوچنیوالی دسینې دڅیرلو یادونه یاپه یوشمیر نورو روایتو کې دکوچنیوالی دسینې دڅیرلو یادونه نسته نو داددې حدیث دنه معتبر کیدو دلیل نه سی کیدای ځکه نه ذکر کیدل دنه دلیل ګرزولو عقلاً دلیل نه سی کیدای ځکه دمعراج احادیث چې راواخلی تقریباً دپنځوس صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه روایت سوی دی مګر دهریوه صحابی په روایت کې دداسې خبری یادونه وی چې دبل صحابی په روایت کې دهغې خبری یادونه نه وی سوی دغه رنګه دلته داوپیژنه چې راوی په یوځای کې یواځې دمعراج دسینې څیرل ذکر کړی دی اوپه بل ځای کې یې دکوچنی والی دسینې څیرل ذکر کړی دی اوپه بل ځای کې یې دواړه سره یوځای کړی دی اودهرځل دڅیرلو وخت اوځای سره بیل اوجلا دی اوهره یوه پیښه بیله اوجلا پیښه ده نو یواځې دیوی پیښې یادیدل دبلې نه یادول دپیښې په نه وجود دلالت نه کوی

داول ځل سینې څیرلو پیښه هغه وخت وسوه چې نبی کریم ﷺ دلس کاله وو دادابوهریرة رضی الله عنه روایت دی په صحیح ابن حبان اودلائل ابی نعیم اونورو کې یاد سوی دی .

دابوهریرة رضی الله عنه حدیث حافظ مقدسی په مختار کې او عبدالله بن احمد په زوائد مسند کې په سند سره ذکر کړی دی ، علامه زرقانی وایې : دزوائد مسند دسندراویان ټول ثقه دی (۱) رواه عبدالله ورجاله ثقات وثقهم ابن حبان ،، په صحیح مسلم کې دانس رضی الله عنه څخه روایت دی ، فتح الباری باب علامات النبوة فی الاسلام ..

دویم ځل داپیښه دپیغمبر کیدو په وخت کې رامنځ ته سوه لکه چې په مسند ابی داؤد طیالسی صفحه ۲۱۵ اودلائل ابی نعیم جلد ۱ صفحه ۶۹ کې دعائشه صدیقه رضی الله عنها څخه روایت دې حافظ ابن الملقن په شرح دبخاری کې اوحافظ عسقلانی په فتح الباری باب المعراج کې باب ماجاء فی قوله عزوجل وکلم الله موسی تکلیماً کې دبعثت په وخت کې دسینې څیرل منلی دی ، دغه رنګه دا پیښه دبعثت په وخت کې پیښیدل په مسند بزار کې دابوذر غفاری رضی الله عنه روایت سوی دی علامه هیثمی فرمایې چې دابوذر رضی الله عنه داحدیث دهغه حدیث څخه بیل اوجلا دی کوم چې دهمدې ابوذر رضی الله عنه څخه داسراء اومعراج په اړه په صحیح بخاری کې روایت سوی دی ، ددې حدیث ټول روأیان ثقه دی اودبخاری راویان دی ، البته جعفر بن عبدالله بن عثمان الکبیر کې خبری شته او دنوموړی پیا ابوحاتم رازی ، اوابن حبان توثیق کړی دی او عقیلی په ده کې خبری کړی دی (۲)

(۱) مجمع الزوائد جلد ۸ صفحه ۲۵۵)
(۲) دحافظ ابن الملقن دبخاری دشرحی قلمی نسخه دحیدرآباد دکن په کتب خانه آصفه کې دی ..

سیف لودین کتابتون

څلورم ځل داپیښه دمعراج په وخت کې منځ ته راغله لکه چې په بخاری اومسلم اوترمذی اونسائی اویوشمیرنوروکې له ابوذر ﷺ څخه روایت سوی دی اوددې پیښې په اړه روایتونه متواتراومشهوردی،،
لنډه داچې داڅلورځله دسینې څیرل خودروایاتو صحیحه اواحادیثو معتبره وو څخه ثابت دی اوپه یوشمیر روایاتو کې پنځم ځل هم دسینې څیرلو یادونه سوی ویل کیږی چې دشلوکالو په عمر کې هم دنبی کریم ﷺ سینه څیری سوه خودا روایت په اجماع د محد ثینو ثابت اومعتبر نه دی..

دسینې څیرل یو حقیقت دی

علامه قسطلانی په مواهب کې اوعلامه زرقانی په شرح مواهب کې لیکي :

ثم ان جميع ماورد من شق الصّدر و استخراج القلب وغير ذلک من الامور الخارقة للعادة مما يجب التسليم له دون التعرض لصرفه عن حقيقته لصلاحية القدرة فلايستحيل شئ من ذلک هكذا قاله القرطبى فى المفهم والطيبى والتور بشتى والحافظ فى الفتح والسيوطى وغيرهم ويؤيده الحديث الصحيح انهم كانوا يرون اثرالمخيط فى صدره قال السيوطى وماوقع من بعض جهلة العصر من انكار ذلک وحمله على الامر المعنوى فهو جهل صريح وخطأ قبيح نشأ من خذلان الله تعالى لهم وعكوفهم على العلوم الفلسفية وبُعدهم عن دقائق السنة عافانا الله من ذلک انتهى (۱)

ژباړه: داتیرشه چې یادسول یعنی دسینې څیرلو اودزړه راایستل اوداسی نوری پیښې دادعادت خلاف خبری په هغه طریقه منل واجب اولازم دی په کومه طریقه چې رانقل سوی دی اوله حقیقت څخه بلی خواته اړول نه دی پکار ، دالله ﷻ دقدرت څخه هیڅ شئ محال نه دی امام قرطبی اوعلامه طیبی اوحافظ توربشتی اوحافظ عسقلانی اوعلامه سیوطی اونورولوی علماء هم همدا فرمایې چې دسینې څیرل په خپل حقیقت باندی حمل دی اوصحیح احادیث ددې تائید کوی هغه داچې په حدیث کې راغلی دی چې صحابه کرامو ﷺ به دنبی کریم ﷺ په سینه مبارکه باندی دګنډلو نښی نښانی په خپلوسترګو لیدی ، علامه سیوطی وایې :زموږ دوخت ځنی ناپوهانو دسینې څیرلو څخه انکار کړی دی او دحقیقت پرځای یې دسینې څیرل پرامر معنوی باندی حمل کړی دی لکه چې داوس عصر یوشمیرسیرت لیکونکی وایې چې دسینې له څیرلو څخه حقیقی معنی مرادنه دی بلکې دشرح صدر معنی مراددی او داخبره ښکاره ناپوهی اولویه تیروتنه ده چې دالله ﷻ دتوفیق نه ورکولواوپه فلسفی علوموکې دبوختیااودسنت اوحدیثودعلومودنه پوهی اولیری والی په وجه دوئ ته ددې په حقیقت کیدوکې شک پیداسوی دی الله تعالی دې موږ ټول ددوئ له عقیدی څخه وساتی آمین

(۱) زرقانی شرح مواهب جلد ۶ صفحه ۲۴)

خلاصه دادې چې دسینه څیرلو څخه حقیقتاً سینه څیرل مراد دی ، دسینې څیرل دشرح صدر په معنی اخیستل چې یو خاص قسم علم دی ، ښکاره تیروتنه دی دسینې څیرل دنبی کریم ﷺ له خاصو معجزو څخه دی اوشرح صدر په نبی کریم ﷺ پورې خاص نه دی .
دابوبکر صدیق او عمر فاروق رضی الله عنهما له وخته بیا تراوسه پورې ډیرو علماء ته شرح صدر سوی دی اوبل داکه دسینې له څیرلو څخه دشرح صدر معنی واخیستل سی چې هغه یو پټ کار دی نو بیا ددې حدیث مطلب څه دی چې دګنډلو ځای دنبی کریم ﷺ په سینه مبارکه کې برملا ښکاره کیدی اوصحابه کرامو رضی الله عنهم به په خپلو سترګو لیدل ،،
آیا په شرح صدر سره په سینه باندې دګنډلو څه علامه ښکاره کیږي .لاحول ولاقوة الابالله العلى العظيم)

دسینې څیرلو راوزنه

لومړۍ ځل دحلیمې سعدیه دپالنې په وخت کې زړه وڅیرل سو اویوه توره ټوټه ځنې وایستل سوه هغه په حقیقت کې دګناه اونافرمانۍ ماده وه له هغې څخه دنبی کریم ﷺ زړه مبارک پاک کړل سو اودرا ایستلو څخه وروسته زړه مبارک غالباً په دې وجه ومینځل سو چې دګناه دمادې نوم اونښان هم پاته نه سی اوپه اوره سره ومینځل سو ځکه دګناهو نو مزاج ګرم دی لکه چې ابن عربی په فتوحات کې لیکلی دی له دې کبله دګناه دمادې دمړه ګولو لپاره په اوره ومینځل سو چې دګناه دګرمۍ نوم اونښان هم پاته نه سی اوله قرآن اوحدیث څخه هم همدا معلومیږي چې دګناهو مزاج ګرم دی لکه چې الله تعالی فرمایي :
{إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا }سورة النساء : آیت ۱۰]
ژباړه : په تحقیق سره هغه کسان چې دیتیمانو مالونه خوري هغوئ په حقیقت کې خپلې خیټې له اور څخه ډکوي ..
له دې آیت څخه ښکاره معلومیږي چې حرام مال که څه هم په ښکاره هرڅومره یخ وي مګر دآخرت په لحاظ دحرام مزاج تراورهم ګرم دی لکه چې دصبر مزاج چې په دنیاکې ترمړغونې ډیر تریخ دی خوپه عالم آخرت کې ترشاتو ډیرزیات خوږدی .
اوپردې باندې نورشیان هم قیاس کړه اوپه یو حدیث کې راغلی دی :
(الصدقة تطفئ الخطئية کمایطفئ الماء النار(رواه احمد والترمذی عن معاذبن حبل)
ژباړه :خیرات کول ګناه داسې وژني لکه څرنګه چې اوبه اور وژني
په یوه بل حدیث کې راځي :ان الغضب من الشیطان وان الشیطان خلق من النار وانمایطفأ النار بالماء فاذا غضب احدکم فلیتوضأ (رواه ابوداؤد) ژباړه : غصه دشیطان له خوا دی اوشیطان له اوره پیدا سوی دی ، نتیجه داسوه چې غضب اوغصه له اوره پیدادی او اورپه اوبو مړکیږي نوکه په تاسو کې یو ته غصه ورغله هغه دې اودس وکړي .

سیف لودین کتابتون

امام غزالی رحمة الله علیه فرمايي: چې په يخو اوبو دې اودس کوی يادې غسل وکوی په اورکې دوه خاص صفتونه دی يو ګرمی اودويم علوه يعنی پورته ختل له دې وجهی نبی کريم ﷺ داول صفت داعلاج وښودی چې اودس وکوی اودغصی اور په اوبو مړکړی اوددويم صفت يعنی لوړوالی يې داعلاج وښودی که ولاړوو کښينی دی او که ناست وو څنګ دی ولګوی لکه چې رسول الله ﷺ فرمايي:

اذاغضب احدکم وهوقائم فليجلس فان ذهب عنه الغضب والافليضطجع . رواه احمد والترمذی عن ابی ذر رضی الله عنه)

ژباړه: چاته که غصه ورغله اوولاړوونو کښينی دی که يې په دې غصه نه ولاړه نو څنګ دی ولګوی داحديث احمدبن حنبل اوترمذی له ابوذر رضی الله عنه څخه روايت کړی دی.

دغصی په وجه چې په انسان کې کوم لوړوالی اولويې پيداکيږی ددې علاج يې په تواضع اوعاجزی سره کړی دی چې دغصی له ورتلو سره سمدی پر ځمکه کښينی يادې اړخ ولګوی اودافکردې وکوی چې موږ له همدې خاوری پيداسوی يودسره سکروټه کيدوڅه ضرورت دی په بخاری اومسلم اودصحاح سته په نورو کتابو کې راغلی دی چې نبی کريم ﷺ به له ثناويلووروسته په لمانځه کې دادعاغوښتله: اللهم اغسل خطاياى بماء الثلج والبرد): ژباړه اې الله جل جلاله زماګناهونه دواوری اوږلی په اوبو سره ومينځی

په دې دعاکښې نبی کريم ﷺ دوو شيانوته اشاره کړی لومړی دګناهوخرابوالی ته چې دګناهو دپريمنځولوغوښتنه يې له الله تعالی څخه وکړه ځکه خلک خومرداری اوناپاکی مينځی پاک اوسپيځلی شيان نه مينځی دويم دګناهوګرمی ته اشاره دی چې دواوری اوږلی په ابو يې دګناهودمړکولوغوښتنه وکړه ځکه که په ګناهوکې يواځی مرداری وای اوګرمی نه وای نوممکن وو چې نبی کريم ﷺ دواوری داوبوپرځای په ګرمواودهغو دمينځلو غوښتنه کړی وای مګرپه ګناهوکې د مرداری سره سره ګرمی هم سته له دې کبله دمرداری دپاکولوپرته ديخولواودګرمی دليری کولوهم اړتياسته په ګرمواوبو که څه هم مرداري پاکيږی خوديخولومقصد دواوری اوږلی په اوبوپوره حاصليدای سی له دې وجهی نبی کريم ﷺ دګرمواوبوپرځای په يخواوبودګناه دمينځلو دُعا کړی ده له دې وجهی امام نسائی رحمة الله علیه له دې حديث څخه دامسئله راکښلی ده چې دلمانځه لپاره د ګرمواوبوپرځای په يخواوبوباندی اودس کول افضل اوغوره دی ځکه له اودس اولمانځه څخه مقصدد ګناهوداُور وژل دی لکه چې دابوذر رضی الله عنه دحديث څخه هغه چې دغصی دعلاج په اړه تيرسو معلوميږی اوپه معجم طبرانی کې له عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت سوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دهرلمانځه پروخت يواوازکونکئ دالله جل جلاله له لوری آوازکوی چې اې انسانانو پورته سی هغه اور مړکي کوم چې تاسو په

سیف لودین کتابتون

خپلو ځانو بل کړی دی ایمان درلودونکي پورته سی اودس اولمونځ و کوی .الله تعالی دی دوئ ته بخښنه وکوی .
لکه څنګه چی ددې آیتونو او حدیثو څخه دګناه دمزاج ګرمی معلومیږی دغه رنګه له دې حدیث څخه دالهی محبت دمزاج یخوالی هم معلومیږی په حدیث کې راغلی دی چی نبی کریم ﷺ به داد عاغوښتله :اللهم اجعل حبک احب الی من نفسی واهلی ومن الماء البارد)
ژباړه : اې الله ﷻ ستا محبت ترټولو شیانو ماته محبوب وګرزوی زماتر ځان اوزماتر کور نی اوتریخو اوبو یې هم ماته محبوب وګرزوی .
دیخو اوبو طبیعت سوړ وی دښوخلکو طبیعت هم سوړ وی ، له دې وجهی الله تعالی په قرآن کریم کې دخپلو خاص بندګانو لپاره دا دعا فرمایلی :رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ (الفرقان. آیت ٧٤) ژباړه : اې زموږ پالونکي موږ ته زموږ دمیرمنو اوزموږ له اولاد و څخه دسترګو یخوالی رانصیب کړی ..
یعنی داچی موږ دوئ ستا په امر منلو کې ووینو اوستا په نافرمانی یې نه ووینو ځکه د مؤمن سترګی دالله ﷻ په عبادت یخیږی اوښکاره خبره ده چی سترګی په یخ شئ سره سړیږی معلومه سوه چی دالله ﷻ دعبادت مزاج یخ دی اودګناه مزاج ګرم دی ځکه دګناه اړیکی له جهنم سره دی ځکه نبی کریم ﷺ کې یخی اوبه اوخپله کورنۍ په یوه کړۍ سره وپیيل اودعایې وغښتله چی اې الله ﷻ ستا محبت ترخپلی کورنۍ اوتریخو اوبو هم زموږ لپاره محبوب وګرزوی ، آمین
دعلم نحو داماما نو په نزد که څه هم په معطوف اومعطوف علیه کې مناسبت ضروری نه دی ځکه داخبره ددوئ دبحث له موضوع څخه وتلی ده مګر دبلغاء په نظرورته والی ضروری دی امکان نه لری چی نبی کریم ﷺ چی ددواړو جهانو سردار افصح العرب والعجم صلی الله علیه وسلم خبری دی له مناسبت اوورته والی څخه خالی وی لکه څنګه چی له آیاتو او احادیثو څخه دګناه دمزاج ګرمی معلومیږی اودعبادت دمزاج یخوالی معلومیږی نوزما په نظر به دمباح شیانو مزاج میانه وی نه به ډیر ګرم وی اونه به ډیر یخ وی والله سبحانه وتعالی اعلم
اودویم ځل چی دلسو کالو په عمر کې دنبی کریم ﷺ سینه وڅیرل سوه هغه په دې وجه وه چی زړه مبارک یې دلهو لعب له مادی څخه پاک اوصفاسی ځکه لهو اولعب (ټوقی بازی) انسان دالله ﷻ له ذکر څخه غافله کوی ،
اودریم ځل چی دبعثت اوپیغمبری په وخت کې زړه مبارک وڅیرل سو هغه په دې وجه چی زړه مبارک دوحی درازونو اوالهی علوموتوان پیدا کي

سیف لودین کتابتون

اوڅلورم ځل دمعراج په وخت کې په دې وجه سینه څیری سوه چې زړه مبارک دعالم ملکوت سیل اوتجلیات الهیه اوآیات ربانیه ووینی اودالله ﷻ دمناجات اودالله ﷻ دبی مثله کلام برداشت وکولای سی لنډه داچې په وار وار دسینې څیرل سوی دی اودهرځل سینې څیرلو بیل بیل حکمتونه دی په وار وار سینه څیرل مقصدداوو چې دزړه مبارک پاکوالی اونورانیت په بشپړه توګه وسی ، علماء کرام دې فتح الباری باب المعراج وګوری

له سینې څیرلو وروسته ولې مهر ولګول سو ؟

کله چې دیوشئ ساتنه مقصودوی نوخلک په هغه مهرلګوی ددې دپاره چې کوم شئ په دې کې ایښودل سوی دی هغه ځنې ونه وزی ، دملغلرو کڅوړه ډکه کړی اومهرپرولګوی ددی دپاره چې ملغلری ځنې ونه وزی دغه رنګه دنبی کریم ﷺ زړه مبارک یې دعلم اوحکمت څخه ډک کړ اوددواړو اوږو ترمینځ یې مهر ولګاوو ددې دپاره چې له دې خزانې څخه څه شئ ونه وزی (۱) اوبل دا لکه څنګه چې دسینې دڅیرلوپه وجه دزړه منیځنی برخه دشیطان دوسوسو څخه پاکه کړل سوه دغه رنګه ددواړو اوږو ترمینځ دزړه مخامخ دشاوخوا ته مهر ولګول سو ددې دپاره چې زړه دشیطان دوسوسو اوباندنی حملو څخه خوندی سی ځکه شیطان له همدې لاری زړه ته وسوسی داخلوی .

له عمربن عبدالعزیز څخه روایت سوی دی چې یوسړی له الله ﷻ څخه غوښتنه وکړه چې اې رب العالمین خدایه ماته دشیطان دوسوسی اچولولارراوښیې چې هغه په کومه لاره راځی اودانسان په زړه کې وسوسه اچوی ، نودالله ﷻ له لوری ورته ددواړواوږو مینځنی برخه چې دزړه مخامخ دشاوچپه خوا ته دی هغه وښودل سوه چې شیطان له دې لاری څخه راځي اوکله چې بنده دالله ﷻ ذکر کوی نوشیطان هم سمدستی شاته سی (۲)

خلاصه :لکه څنګه چې دزړه مبارک دننه برخه دسینې څیرلوپه ذریعه دشیطانی مادی څخه پاکه سوه دغه رنګه دشاوخوا ته دمهرپه لګولوسره هم دشیطان دراتلولاره بنده سوه

مهرنبوت کله ولګول سو ؟

بعض وایې چې مهرنبوت دزوکړی له وخت څخه وو اودبنواسرائیلو علماء به نبی کریم ﷺ په همدې علامه پیژندی اوبعض وایې چې دسینې څیرلو څخه وروسته مهرنبوت ولګول سولومړۍ خبره ډیره صحی اوغوره دی ځکه له ځینی روایاتوصراحتاً معلومیږی چې دنبی کریم ﷺ زوکړه په مهرنبوت سره سوی ده او په کوموروایتونوکې دسینې دڅیرلو څخه وروسته دمهرنبوت لګول ذکر دی هغه دمخکنی مهرنبوت بیاتازه کول اودوهم ځلی تازه کول وو په دې طریقه په ټولوروایتونوکې تطبیق اوتوفیق راځی (۳)

---

(۱)خواتم الحکم صفحه ۱۵۲) (۲) [illegible] (۳) [illegible]

سیف لودین کتابتون

دسینی دشیرلوپه پیښنه سره حلیمه ته دا اندیښنه پیداسوه چی هسی نه چی نبی کریم ﷺ ته څه زیان ورسیږی له دې کبله یې هغه مبارک ﷺ بی بی آمنه ته مکی ته راوستی اوټوله پیښنه یې ورته بیان کړه ، بی بی آمنه چی قصه واوریدله بیخی حیرانه سوه دې دهغو انوارو اوتجلیاتو اودخیراوبرکت یادونه ورته و کړه کوم چی دحمل اوزوکړی په وخت کې ښکاره سوی وو اودایې وفرمایل چی زما ددې زوی به ډیر لوړ شان وی دې مبارک ماشوم ته دشیطان رسیدل هیڅ امکان نه لری ته خاطر جمع اوسه هیڅ مه ویریږه ده ته هیڅوک هم زیان نه سی رسولای حلیمه خپل کورته بیرته ولاړه اومبارک ماشوم له خپلی مورسره پاته سو کله چی یې عمر شریف شپږ کاله ته ورسیدی نوبی بی آمنه مدینه منوری ته دتلو اراده وکړه اوهغه مبارک هم ورسره وو ،ام ایمن هم له دې سره ملګری وه یوه میاشت یې دخپلو خپلوانو کره تیره کړه بیاله هغه مبارک سره یوځای بیرته راروانه سوه په لاره کې په ، ابواء ، نامی ځای کې وفات سوه اوهم هلته ښخه سوه ،انالله وانا الیه راجعون

نبی اکرم صلی الله علیه وآله وسلم دخپل نیکه عبدالمطلب په پالنه :

ام ایمن هغه مبارک له ځان سره مکی ته راوستی اوخپل نیکه عبدالمطلب ته یې وسپاری عبدالمطلب به هغه مبارک همیشه له ځان سره ساتی عبدالمطلب به چی کله مسجدحرام ته تلی نودکعبی شریف په سایه کې به دهغه لپاره یوخاص کمپله هواریدله دهیچاداتوان نه وو چی پرهغه ځای باندی کښینی دعبدالمطلب زامن به هم ددغه کمپلی پرشاوخوا کیناستل مګرنبی کریم ﷺ چی به کله راغلی نوبی تکلفه به په دغه ځای کینستی دنبی کریم ﷺ آکا چی به راغلی نوغوښتله به یې چی نبی کریم ﷺ له دې ځایه ولاړسی خوعبدالمطلب به په ډیره مهربانی داسی ویل چی زمادازوی همدلته پریږدی په الله ﷻ قسم چی دلوی شان خاوند دی ، بیابه یې راوغوښتی اوخپل څنګ ته به یې کښینوی اونبی کریم ﷺ ته به یې کتل دنبی کریم ﷺ په لیدلوبه ډیرخوشحالیدی ،

په سیرت ابن هشام (١) اوعیون الاثر او مستدرک دحاکم کې کندیر بن سعد له خپل پلار څخه روایت کوی ، چی زهٔ دجاهلیت په وخت کې دحج لپاره مکی مکرمی ته ولاړم یوسړی می ولیدی چی طواف کوی اوداشعر وایې :

رُدَّاِلَیَّ رَاکِبِي مُحَمَّدًا .... یَارَبِّ رُدَّهُ وَاُصْطَنِعْ عِنْدِیْ یَدًا

ژباړه : اې الله ﷻ زماسپور محمد ﷺ بیرته راولی ، اوپرمابانددی لوی احسان وکوی ، ماله خلکوپوښتنه وکړه چی داڅوک دی خلکو وویل داعبدالمطلب دی خپل لمسی یې

(١) حافظ سیوطی فرمایې چی داپیښنه په سیرة محمدبن اسحاق اودلائل ابی نعیم کې ذکرده اوابونعیم په یوبل سند سره داپیښنه له ابن عباس رضی الله عنه اوابن سعد له زهری اومجاهد اونافع بن جبیر څخه روایت کړی ده . خصائص کبری)

سیف لودین کتابتون

ورک سوداوښانو دپیداکولو لپاره یې لیږلی دی ځکه هغه چې دهرکارلپاره ولاړسی خامخابریالی راځي اوس هغه ځنډوکی ډیر وخت تیرسو له دې وجهی عبدالمطلب خفه دي اوداشعروایې څه وخت لانه ووتیرسوی چې محمد ﷺ بیرته راغلی اواوښ ورسره وو دده مبارک په لیدوسره سم عبدالمطلب ورترغاړه سو اودایې وویل چې زویه زه ستاپه وجه ډیر زیات خفه وم له دې وروسته به زه تاله ځانه هیڅ وخت نه بیلوم ،حاکم فرمایې چې داروایت په شرط دمسلم دی اوحافظ ذهبی هم داپه شرط دمسلم باندی منلی دی (۱)

دعبدالمطلب مړینه !

تردوه کالوپوری نبی کریم ﷺ دخپل نیکه عبدالمطلب په پالنه کې پاته سو کله چې دنبی کریم ﷺ عمر شریف اته کاله ته ورسید نوعبدالمطلب هم له دنیا رخصت سو د عبدالمطلب په عمرکې خبری بیلابیلی دی ددوه اتیا ۸۲ یا پنځه نیوی ۹۵ یایوسلو شلو کالو په عمروفات سو اوپه جحون کې ښخ سو ، ابوطالب چې دعبدالله صاحب سکه ورور وو له دې کبله عبدالمطلب دمرګ په وخت کې نبی کریم ﷺ وابوطالب ته وسپاری اوداوصیت یې ورته وکوی چې په ډیره مهربانی اوډیره مینه به دده پالنه اوتربیه کوی (۲) ام ایمن وایې : چې څه وخت دعبدالمطلب جنازه پورته سوه نوماخپله نبی کریم ﷺ ولیدی چې دهغه په جنازه پسی روان اوژړل یې (۳)

یوه ورځ له هغه څخه پوښتنه وسوه چې ستا دعبدالمطلب مړینه په یاددی نبی کریم ﷺ وفرمایل چې زماعمر هغه وخت اته کاله وو (۴)

دمهربان نیکه له مړینی وروسته نبی کریم ﷺ دابوطالب په پالنه کی وو

دعبدالمطلب ترمړینی وروسته دخپل آکا ابوطالب دپالنی اوتربیت په غیږکې راغلی ابوطالب هغه مبارک ترخپلوزامنوهم ډیر عزتمند وساتی اوپه ډیره میرانه اومینه یې ترمرګه دنبی کریم ﷺ پالنه اوتربیه وکړه اوپه رښتیایې دروزنی اوپالنی پوره حق اداکړی ، خوافسوس چې ابوطالب له دومره مینی اومحبت سره سره بیاهم دایمان له دولت څخه اوداسلام له نعمته بی برخی پاته سو یووخت په مکه مکرمه کې وچکالی راغله خلکوله ابوطالب څخه غوښتنه وکړه چې ته دباران لپاره دعاوکړه ، ابوطالب له ځونورکسانوسره یوځای نبی کریم ﷺ واخیستی اوحرم شریف ته ولاړو اودنبی کریم ﷺ مبارکه شایې له کعبی سره وموښلوله نبی کریم ﷺ دعاجزی اوالتجاء په ډول خپله دشهادت ګوته اسمان

---

(۱) مستدرک جلد ۲ صفحه ۶۰۳)
(۲) عیون الاثر جلد ۱ صفحه ۴۰)
(۳) طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۷۴)

سیف لودین کتابتون

وخواته اشاره وکړه ، دوریځې هیڅ نوم اونښان نه وو دنبی کریم ﷺ د اشاری په کولو سره له هری خوا وریځ راغله اودومره باران وسو چی تړوله ناوی لښتی وبهیدل په دې اړه ابوطالب وویل :وَاَبْيَضَ يُسْتَسْقَى الْغَمَامُ بِوَجْهِهِ:......... ثِمَالُ الْيَتَامٰى عِصْمَةٌ لِلْاَرَامِلِ

ژباړه : داسی روښانه اومنوردی چی دده دمخ په برکت سره له الله تعالی باران غوښتل کیږی دیتیمانو پناه اودکونډو دډهیلو اووړکرزیدو ځای دی (۱)

دنبی کریم ﷺ شام ته لومړی سفر اودبحیرا راهب قصه (۲)

دنبی کریم ﷺ عمر مبارک دولسو کالو ۱۲ ته رسیدلی وو چی ابوطالب دقریشو دتجارت له قافلی سره دشام اراده وکړه دسفر دستونزوله کبله دابوطالب نیت نه ووچی نبی کریم ﷺ له ځان سره بوزی ، دروانیدوپروخت یې دده مبارک په مخکې دغم اوخفگان نښې ولیدی له دې کبله یې هغه له ځان ملگری کړ سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۶۱ اوعیون الاثر جلد ۱ صفحه ۴۱ قافله روانه سوه کله چی بُصری ته نژدی ورسیدل نو هلته یو نصرانی راهب چی دجرجیس په نامه مشهوروا وسیدی اودنبی آخر الزمان چی کومی علامی په اسمانی کتابوکې یادی سوی وی په هغوښه خبروو کله چی دمکی داقافله دبحیرا راهب دعبادت ځای وڅنگه ته پړاو واچاوی نوهغه دنبی کریم ﷺ شکل ته وکتل اووې پیژندی چی داهغه نبی دی چی دده خبر په مخکنیو اسمانی کتابوکې ورکړل سوی دی اودنبی کریم ﷺ یې ترلاس ونیوی ،زرقانی جلد ۱ صفحه ۱۹۴

اوپه جامع ترمذی کې له اَبوموسی اشعری ﷺ څخه روایت سوی چی یوځل ابوطالب دقریشو له مشرانوسره یوځای شام ته ولاړی شام ته چی کله ورسیدل هلته یوراهب اوسیدی مخکې هم څو ځله پردې راهب باندی تیرسوی وو خوهغه به هیڅ توجه نه ورته کوله په دې ځل چی څنگه دقریشو قافله هلته ورسیده نوراهب دتیر ځل په خلاف له خپلی عبادت خانی څخه راووتی اودوئ ته راغلی اوپه تیز نظرسره یې هریوه ته بیل بیل وکتل ترڅوچی دنبی اکرم ﷺ لاس یې ونیوی اووې ویل :

هذا سید العالمین هذا رسول رب العالمین یبعثه الله رحمة للعالمین)

داسردار ددواړو جهانودی همدادټول عالم دپالونکي استازی دی الله ﷻ به یې دټولی نړۍ لپاره رحمت رالیږی .

دقریشو مشرانوو راهب ته وویل چی تاته څه معلومه سوه ؟ راهب وویل کله چی

---

(۱) زرقانی جلد ۱ صفحه ۱۹۰)

(۲) بحیرا دباء په زور سره اودحاء په زیر سره اویاء ساکنه دی اوپه آخر کې راء مقصوره ده اویوشمیرېې په یاء ممدوده وایې، زرقانی جلد ۱ صفحه ۹۵ دمحقیقینوپه نزد بحیرا راهب مسلمان وو مشرک اوبت پرست نه وو اوپه یوشمیر روایاتو کې چی بحیرا په لات اوعزی قسمو رکول راغلی دی نو هغه دامتحان په ډول وو

سیف لودین کتابتون

تاسو ټول له دې خوړ څخه وتلاست نوهيڅ يو کاڼي ، اوبوټي ، نه دی پاته سوی چې هغه دې سجده نه وی کړی اوکاڼی بوټی یوازې نبی ته سجده کوی ، اوله دې څخه پرته زه هغه په مهرنبوت سره هم پيژنم هغه چې دسيب سره ورته والی لری دده مبارک تراوږه لاندی واقع دی راهب داوويل اوبيرته ولاړی اويوازې دده مبارک په وجه يې ټولی قافلی ته خوراک تيار کړ دميلمستيالپاره دقافلی ټول خلک راغلوخونبی کريم ﷺ موجود نه وو راهب پوښتنه وکړه چې هغه مبارک چيری دی خلکو ورته وويل چې هغه داوښانودپيولودپاره تللی دی خلک يې ورولیږل اوهغه يې راوغوښتی کله چې ده مبا ر ک تشريف راوړی نويوی اوريځې دده مبارک پرسرباندی سيوری کړی وو کله چې خپلوخلکوته رانژدی سو نووې ليدل چې خلکومخکې لاترونولاندی ځايونه نيولی دی اودسايه هيڅ ځای نسته هغه مبارک يوی خواته کښينستی له کينستلوسره سم دونی سايه دده مبارک خواته وګرزيده ، راهب وويل چې دونی سايې ته وګوري چې څنګه دده وخواته وګرزيدله، راهب ولاړسو اوخلکوته يې وويل چې زه تاسوته قسم درکوم چې تا سو دغه مبارک شام ته مه بيايا ست ، که روميانو وليدی نوسمدستی يې پيژني ځکه دوئ دنبی آخرزمان په صفتو اونښانوخبردی قتل کوی يې دوئ لا په خبروبوخت ووچې ناڅاپه دروميانو اوه کسان رانښکاره سو دوئ دچاپه لټوون پسی راوتلی وودراهب وخواته راغلو ، راهب پوښتنه ځنې وکړه چې دڅه دپاره راوتلی ياست ، روميانو وويل موږ په هغه نبی پسی ګرزو چې دهغه ذکری په تورات ، اوانجيل کې يادسوی دی چې هغه په دې مياشت کې دسفرلپاره راوتونکې دی هرې خواته موږ خپل خلک ليږلی دی ، راهب وويل ښه داراته ووايا ست چې دکوم شئ اراده الله ﷻ کړی وی هغه تاسوبندولای سی ، روميانو وويل نه ، له دې وروسته روميانو له بحيراراهب سره ژمنه وکړه چې له دې وروسته به موږ په هغه نبی پسی نه ګرزو دوئ اووه سره له بحيراراهب سره پاته سوه ، ځکه په کوم نيت چې دوئ راوتلی وو هغه فکريې بدل سو له دې کبله يې اوس بيرته تګ دمصلحت خلاف کاروګڼی اودبحيرا راهب سره پاته سوه راهب بيا دقريشو قافلی ته قسم ور کړچی دغه مبارک شام ته مه بيايا ست اوپوښتنه يې وکړه چې په تاسوکې دده ذمه وار څوک دی خلکو ابو طالب ته اشاره وکړه ، راهب ابو طالب ته وويل چې دغه مبار ک خامخابيرته وليږه ابو طالب نبی کريم ﷺ دابوبکر صديق رضي الله عنه اوبلال رضي الله عنه سره يوځای مکی ته بيرته وليږی راهب دناشتی لپاره ډوډۍ اودزيتون تيل ورکړل

امام ترمذی فرمايي چې داحديث حسن دی ، حاکم فرمايې چې داروايت دبخاری اومسلم په شرط باندی دی ، دبيهقی په يوروايت کې راغلی چې بحيرا راهب ولاړسو اودنبی کريم ﷺ شامبارکی ته يې وکتل ددواړو اوږو ترمينځ يې مهرنبوت وليدی ،

سیف لودین کتابتون

اومهرنبوت یې په هم هغه صفت ولیدی کوم چې دده په علم کې وو امام بیهقی فرمایي چې داقصه داهل مغازي په نزد مشهوره ده.

شیخ جلال الدین سیوطی رحمه الله وایې چې داپیښه ډیر شواهدلري او ددې دصحت حکم کیږي اوژرده چې هغه به زه بیان کړم انشاء الله (۱)

حافظ عسقلانی رحمه الله په الاصابه کې لیکي ددې روایت ټول راویان ثقه دی اودصحیح بخاري راویان دی عبدالرحمن بن غزوان دبخاري له راویانوڅخه دی دحدیثو امامانو اودحفاظو یوه جماعت عبدالرحمن ته ثقه ویلي دی حافظ سخاوي وایې په یوه ځای کې می ونه لیدل چې په عبدالرحمن باندې چاجرح کړې وی په دې روایت کې یوائې له ابوبکر رضی الله عنه اوبلال رضی الله عنه سره دلیږلو یادونه یوشمیر راویانوپه غلطی درج کړې دی له دې وجې ویل کیږي چې یوائې دابوبکر اوبلال سره دلیږلو یادونه په دې روایت کې زیادت سوی دی اودیوې کلمې دداخلیدوپه وجه ټول حدیث ته ضعیف نه ویل کیږي ځکه دحدیث ټول راویان ثقه اودباورړ خلک دی (۲)

اوداحدیث په مسند بزار کې هم یاد سوی دی خوپه هغه کې دبلال رضی الله عنه یادونه نسته بلکې د ،، وارسل معه بلالاً ،، پرځای د ،، رَجُلاً ،، لفظ راغلی دی (۳)

امام جزري رحمه الله فرمایي : ددې حدیث سند صحیح دی ددې ټول راویان دصحیح بخاری راویان دی یوائې دابوبکر اوبلال یادونه په دې روایت کې دراوي وهم دی (۱)

حافظ عسقلانی په فتح الباری کتاب التفسیر کې لیکي چې دترمذی دحدیث سند قوی دی په ظاهرکې دوهم منشأ یوبل روایت معلومیږي هغه داچې دابن عباس رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دشلوکالوپه عمرکې شام ته یوسفر کړی وو په همدې سفرکې ابوبکر رضی الله عنه هم ورسره ملګری وو په دې سفرکې هم دبحیرا راهب سره ملاقات وسو داروایت حافظ ابن منده اصبهانی ذکر کړی دی ددې حدیث سندضعیف دی ، حافظ عسقلانی په اصابه کې لیکي چې که دا روایت صحیح شی نو د نبی کریم ﷺ داسفر دشام دهغه سفرڅخه جلا دی کوم چې مخکې یې یادونه وسوه ، راوي ته دهمدې روایت څخه شک پیداسوی دی اوددواړو قیصودنژدې والی په وجه یې په قصه کې دابوبکر رضی الله عنه یادونه کړې ده (۲) والله سبحانه وتعالی اعلم)

.علامه شبلي پردې روایت تنقید کوی اوپه سیرت النبی جلد۱ صفحه ۱۳۱ کې لیکي چې داروایت دمنلوړ نه دی .

---

(۱) الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۸۴)
(۲) عیون الاثر جلد ۱ صفحه ۴۳)
(۳) زادالمعاد جلد ۱ صفحه ۱۷)

سیف لودین کتابتون

آخري راوی ابوموسی اشعری رضی الله عنه دی اونوموړی په پیښنه کې په خپله نه وو دې روایت مرسل وایې مرسل هغه روایت دی چې یو صحابی رضی الله عنه دداسی پیښني روایت وکوی چې په هغه کې په خپله نوموړی نه وی نوداحدیث دمحدثینوپه اصطلاح کې دمرسل په نامه یادیږی اومرسل حدیث دمحدثینوپه اتفاق مقبول اودمنلووړدی که داسی نه سی نودعائشه صدیقه رضی الله عنها اونوروکشرانوصحابه کرامو رضی الله عنهم هغه روایتونه چې په هغوکې دوئ په خپله په پیښنه کې شریک نه وو هغه ټوله به غیرمعتبر اوبی اعتماده سی دحدیث دصحیح کیدو لپاره داکافی دی چې ترصحابی پوری چې څومره راویان وی هغه ثقه وی صحابی چې دنبی کریم ﷺ څخه څه روایت کوی هغه رښتیا په خپله یادبل له ژبی څخه چې هغه په خپله له نبی کریم ﷺ څخه اوریدلی وی هغه روایت کوی .

حافظ سیوطی رحمة الله علیه په تدریب الراوی کې لیکی چې په صحیحینو کې داسی روایتونه بیشمیره شتون لری آه اوتعجب دادی چې دبعثت دپیښني په بیان کې خپله علامه دا اصول منلی دی ، لکه چې علامه دسیرة النبی جلد ۱ صفحه ۱۴۸ په حاشیه کې لیکی چې داروایت د عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه نقل دی مګر عائشه صدیقه رضی الله عنها هغه وخت پیدا سوی هم نه وه ، دمحدثینو په اصطلاح کې وداسی روایت ته مرسل ویل کیږی ، مګر دصحابه وو مرسل دمحدثینوپه نزد ددلیل نیولو وړدی ځکه متروک راوی هم صحابی وی ، خبره پای ته ورسیده ، موږنه پوهیږو چې له علامه څخه دا اصول څرنګه هیرسوی په دې ځای کې علامه دصلیبیانوله اعتراض څخه دومره ویریدلی چې دتحقیق په جوش اودګوت نیونی په جذبه کې یې حافظ ابن حجر هم دصلیبیانو په شان دروایت پرستی په شرک تورکړی دی که څه هم دا دګفرٌ دون کُفرٍ وظلمٌ دون ظلمٍ مصداق دی مګرپه مطلق شرک کې شراکت شرک دی .

علماء ته خودا جائزدی چې دیومحدث قول ته ترجیح ورکړی مګر دهیڅ محدث په شان کې دتنقیص اوسپکاوی الفاظ استعمالول جائزنه دی ادب دالله جل جلاله لوی نعمت دی .

حافظ عراقی په الفیة السیرة کې فرمایې :

وكان يدعى بالامين ورحل .... مع عمر بالشام حتى اذوصل

بُصرى رأى منه بحيرالراهب: .... مادل انه النبى العاقب

محمدنبى هذه الاُمّة .... فَرَده تخوفاً من ثَمّهْ

من ان يرى بعض اليهود امره : .... وعمره اذذاك ثنتاعشرة

(۱) مرقات جلد ۵ صفحه ۴۷۲)
(۲) الاصابه جلد ۱ صفحه ۱۷۷)

سیف لودین کتابتون

حرب الفجار يعنى په محرمو مياشتو کې جګړه کول !

په عربو کې له ډيره وخته دجګړو سلسله جاري وه دفيلانو دپيښې وروسته چې کومه مشهوره جګړه مينځ ته راغله هغه دحرب الفجار په نامه سره يادېږي داجګړه دقريشو او قيس قبيلې ترمينځ پيښه سوه ، لومړی قيس قبيلې پر قريشو بريالی سوه خو وروسته قريش بيرته پر قيس بانديې بريالي سو آخر ددوئ ترمينځ سوله وسوه او جګړه پای ته ورسيده په بعضی وختو کې نبی کريم ﷺ هم دخپلو آکانو په ټينګار په جګړه کې برخه واخيسته خو جګړه يې ونه کړه ..

علامه سهيلی رحمة الله عليه فرمايي :

وانما لم يقاتل رسول الله صلى الله عليه وسلم مع اعمامه وكان ينبل عليهم وقدكان بلغ سن القتال لانها كانت حرب فجار وكانوا ايضاً كلهم كفاراً ولم يأذن الله لمؤمن ان يقاتل الالتكون كلمة الله هي العليا

ژباړه : په دغه جګړه کې نبی کريم ﷺ دخپلو آکاګانو سره په ملګرتيا کې جګړه ونه کړه سره له دې هغه دجګړې کولو عمرته رسيدلی وو يواځې خپلو آکاګانو ته به يې غيشی تيارول جګړه يې ځکه ونه کړه چې داجنګ حرب فجار وو يعنى په هغه مياشتو کې مينځ ته راغله چې په هغوئ کې جنګ کول فسق او فجور ناجائز او حرام وو ..

له دې وجې دې جګړې ته حرب الفجار وايې له دې پرته دوئ ټول کافران وو مؤمن ته دجنګ جګړې حکم يواځې په دې وجه ورکړل سوی دی چې دالله ﷻ کلمه لوړه سی (۱)

ابن هشام فرمايې چې په دغه وخت کې دنبی کريم ﷺ عمر شريف څورلس يا پنځلس کاله وو او محمد بن اسحاق وايې چې دغه وخت دهغه عمر شريف شل کاله وو (سيرة ابن هشام)

په حلف الفضول کې نبی کريم ﷺ برخه واخيسته !

دجګړو لړۍ خوله ډيرې مودې راهيسې په عربو کې روانه وه مګر دحرب فجارله جګړې وروسته يو شمير خلکو دافکر وکړ چې لکه څنګه چې مخکې دقتل اولوټ تالان اوغلادبندولو لپاره ، فضل بن فضاله او فضل بن وداعة ، او فضل بن حارث يوه پريکړه ترتيب کړې وه هغه چې ددوئ په لاسليک دحلف الفضول په نامه مشهوره وه ، دغه رنګه اوس بيا دهغې پريکړې نوی کول پکاردي .

زبير ، بن عبد المطلب په خپل يوه شعر کې ددې پريکړې يادونه کړې شعر داسی دی :

اِنَّ الفُضُولَ تَحَالَفُوْا وَتَعَاقَدُوْا .... اَلَّا يُقِيْمَ بِبَطْنَ مَكَّةَ ظَالِمٌ

ژباړه : فضل بن وداعه او فضل بن فضاله او فضل بحارث له ټولو پردې خبره ژمنه اوقسم واخيستی چې په مکه کې به هيڅ ظالم نه پاته کيږي ..

اَمْرٌ عَلَيْهِ تَعَاهَدُوْا وَتَوَاثَقُوْا .... فَالْجَار وَالْمُعْتَرّ فِيْهِمْ سَالِمٌ

هغه کارچې دوئ ژمنه وکړه او پريکړه يې پروکړه هغه دا چې په مکه کې اوسيدونکي او راتلونکي خلک به ټول په امن او خوندی وی (سيرة ابن هشام او روض الانف صفحه ۹۱) ——(۱) روض الانف جلد صفحه)

سیف لودین کتابتون

د کوچنی اختر په میاشت کې دحرب فجار جګړه ودریده نو په میانځ کې دحلف فضول په نامه دپریکړې لړۍ پیل سوه ترټولو مخکې زبیر بن عبدالمطلب ددې پریکړې اوقسم خبره راپورته کړه بنوهاشم اوبنوتمیم دواړه دعبدالله بن جدعان په کور کې رایوځای سو عبدالله بن جدعان دټولو لپاره میلمستیاتیاره کړه دجدعان په کورکې ټولودساتنی اومرستی ژمنه سره وکړه اوداپریکړه یې وکړه ، چی مظلوم که خپل وطن وی اوکه مسافر وی دخپل توان په اندازه به مورږ ټول له هغه سره مرسته کوو (طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۸۲)

نبی کریم ﷺ فرمایې چی ددې پریکړې په وخت کې زه هم دعبدالله بن جدعان په کورکې حاضروم ، ددې پریکړې په بدل کې که وماته سره اوښان راکول سی هم یې نه خوښوم اوکه اوس داسلام په زمانه کې هم وداسی پریکړې ته زاوبلل سم نوهم به برخه پکی واخلم ،عبدالله بن جدعان په خپلوی کې دعائشه صدیقه رضی الله عنها داکا زوی وو یوه ورځ عائشه صدیقه رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل : یارسول الله صلی الله علیه وسلم ابن جدعان ډیرمیلمه پال وو ، خلکوته به یې خوراک ورکوی آیادقیامت په ورځ به ابن جدعان ته څه ګټه ورسوی ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : نه ، ځکه چی هغه نه دې ویلی چی رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ :اې پروردګاره دقیامت په ورځ زماګناهونه وبخښي یعنی ده هیڅ کله دالله تعالی په دربار کې دخپلو ګناهو دبخښنی غوښتنه نه ده کړې .

ابن قتیبه په غریب الحدیث کې نقل کوی : چی رسو ل الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چی زه به په تلوتلو کښي دګرمۍ په وخت کې دعبدالله بن جدعان دلګن په سیوری کې ودریدم (روض الانف جلد ۱ صفحه ۹۲) یعنی دعبدالله بن جدعان لګن دومره غټ وو چی دهغه په سایه کې به یو انسان دریدای سو ، داسی وو لکه دجفانٍ کالجواب ، یوه نمونه چی وه (۱)

دنبی کریم ﷺ تجارت اوکاروبار اودامین لقب .

له داؤد بن حصین څخه روایت سوی دی (۲) چی نورو خلکوماته ویلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم داسی ځوان سو چی هغه مبارک په خپل قوم کې ترټولو زیات ځوان مرده دلاوره اوترټولو ښه خوی درلودونکی اوترټولو ډیردګاونډیانو په حال خبر اوترټولو ډیرصبرناک اوحلیم اوترټولو ډیر رښتینی اوامانت ساتونکي اوترټولو ډیر دجنګ جګړو اوښکنځلو اوپوچ ګوئی اوهرې بدی خبری څخه ډیر لیری وو په همدې وجه ده مبارک ته خپل قوم دآمین لقب ورکړ ،اخرجه ابن سعد وابن عساکر خصائص کبری جلد صفحه ۹۱)

---

(۱) یعنی لکه څنګه چی پیریانو دسلیمان علیه السلام په امر دحوضوپه اندازه غټې پیالی جوړولی لکه په سورت سباء کې چی راغلی دی

(۲) یحی بن معین سائی ، داؤد بن الحصین ته ثقه ویلی دی په کال ۱۳۵ هجری کې وفات سوی دی بخاری هم له ده څخه روایت کړی دی ، خلاصه صفحه ۱۰۹)

سیف لودین کتابتون

له عبدالله بن ابی الحمساء رضی الله عنه څخه روایت سوی دی : چی ماله نبی کریم ﷺ سره تر پیغمبر کیدو مخکښې یوه معامله وکړه زما پرذمه څه پاته وو ماهغه مبارک ته وویل چی زه یې اوس راوړم خو کله چی کورته ولاړم خپله وعده راڅخه هیره سوه ، له دریې ورځو وروسته را یادسوچی ماخوله هغه مبارک سره وعده کړی وه ،زه هم سمد ستی هغه دوعدی ځای ته راغلم هغه مبارک هم هلته په انتظار وو ده مبارک یوائی دومره وویل چی تاماته تکلیف راکړی زه له دریې ورځو راهیسی ستاپه انتظاروم (سنن ابی داؤد باب العزة من کتاب الادب)

عبدالله بن ثائب رضی الله عنه وایې (۱) چی دجاهلیت په زمانه کې زه درسول الله صلی الله علیه وسلم دتجارت شریک وم کله چی مدینی منوری ته ورغلم نوده مبارک راته وویل چی ماپیژنی ماوویل هو ولی نه . کنت شریکی فنعم الشریک لاتدری : ته زمادتجارت شریک وی اوزما ډیر ښه شریک وی ترتاښه شریک زه نه پیژنم

قیس بن سائب مخزومی رضی الله عنه (۲)وایې چی دجاهلیت په وخت کې زه درسول الله صلی الله علیه وسلم دتجارت ملګری وم وکان خیر شریک لایماری ولایشاری (۳) : هغه ډیر ښه ملګری وو و نه به یې جګړه کوله اونه یې پیرل اوپلورل کول (اصابه ترجمه قیس بن سائب رضی الله عنه)

نبی کریم ﷺ بزی ، پسونه څرول پیول !

لکه څنګه چی نبی کریم ﷺ دحلیمی سعیدی کره دکوچنی والی په وخت کې له خپلو ناسکه وروڼوسره بزی پوولی دغه رنګه له ځوانیدو وروسته یې هم پسونه اوبزی پوولی دی ، له جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روایت دی چی په ظهران نامی ځای کې زه دنبی کریم ﷺ سره وم چی هلته داغزنوبوټو میوی صفاکیدوته نژدی وی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی توری دانی په کښي ګوری، هغه ډیری خوندوری وی موږ ورته وویل یارسول الله ﷺ آیاتا بزی پوولی دی چی له هغه وخته تاته معلوم ی دی ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل هیڅ یونبی نسته چی هغه دې بزی نه وی پوولی (۴)

---

(۱) عبدالله بن سائب رضی الله عنه په مکه مکرمه کې اوسیدی اوپه مکه کې دعبدالله بن زبیر رضی الله عنه دخلافت په وخت کې وفات سو عبدالله بن عباس رضی الله عنه دجنازی لمونځ باندی وکی

(۲) مجاهد دهمدې صحابی آزادکړل سوی مریئ دی له مجاهد څخه روایت سوی دی چی کله دقیس بن سائب عمر ۱۶۰ کاله سو اودروژی نیولوتوان یې نه وو نودا آیت نازل سو وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ (۱۸۴آیت سورة البقرة). کله چی به دروژی مبارکه میاشت راغله نوقیس بن سائب رضی الله عنه به فرمایل چی زماله طرفه هره ورځ یوه مسکین ته فدیه ورکوی ، ابوحاتم فرمایې چی زماګمان دی چی قیس بن سائب رضی الله عنه دعبدالله بن سائب ورور دی ، مجاهد روایت کوی چی قیس بن سائب رضی الله عنه به فرمایل : کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یصلی الفجر اذایغشی السماء النور والظهر اذا زالت الشمس ، الحدیث : ژباړه : یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغه وخت دسهار لمونځ کوی چی کله به په آسمان کې رڼا خپره سوه اودماپښین لمونځ به یې له زوال څخه وروسته کوی (اصابه)

(۳) لایشاری لایلاج وقیل لایأتی بالشری لایشاری یقلب احدی الرائین کذافی الدرالمنثور تلخیص النهایة للسیوطی)

(۴) بخاری کتاب الاطعمه)

سیف لودین کتابتون

له ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :
هیڅ یو پیغمبر نسته چی هغه دې بزی نه وی پوولی ..
صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ تاهم پوولی دی ؟ نبی کریم ﷺ وویل هو ماهم دمکی دخلکو بزی په څو قیراطو باندی پووولی دی ، بخاری شریف کتاب الاجارة جلد ۱ صفحه ۳۰۱)
حافظ توربشی رحمة الله علیه په شرح مصابیح کې لیکی : چی دیوشمیرخلکوپه نظردپسونو پوول اوپرهغه مزدوری اخیستل دپیغمبري له شان سره مناسب نه دی دوئ وایې چی په دې حدیث کې دقراریط لفظ راغلی دی ، دادقیراط جمع نه دی بلکې دهغه ځای نوم دی چیری چی به هغه مبارک بزی پوولی ددوئ داخبره بیځایه تکلیف دی په دینی کارو باندی هغه چی دالله ﷻ دپاره کیږی په هغه باندی دنبی مزدروی اوبدله اخیستل رښتیاهم دنبوت له مرتبی سره مناسب نه دی مګر دژوند اودنیایې کسب دپاره مزدوری اوپه بدله کارکول هیڅ کله دنبوت له شان سره خلاف کارنه دی بلکې کارکسب کول دانبیاء علیهم السلام طریقه کاردی اوتوکل ددوئ حال دی اوبل داچی داکارترنبوت اوپیغمبر ي مخکی وو له دې پرته قراریط دیوځای نوم ښودل بیخی نامعلومه اوشاذ خبره دی تردوئ مخکې هیچانه دی ویلی چی قراریط دیوځای نوم دی یاوو
حافظ عسقلانی رحمة الله علیه لیکي : چی راجح خبره داده چی قراریط دقیراط جمع دی دځای نوم نه دی ، اهل مکه دقراریط په نامه هیڅ ځای نه پیژنی اونه په خبردی ، نسائي دنصربن حزن څخه روایت کوی چی یوه ورځ داوښانولرونکواوبزولرونکوپه خپل مینځ کې یوپربل باندی فخرکوی ، نورسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : چی موسی علیه السلام پیغمبرراولیږل سواوهغه دپسوپوونکي وواوزه پیغمبر راولیږل سوم اوماهم دخپلی کورنۍ بزی اوپسونه په آجیاد نومی ځای کې پوول (فتح الباری جلد ۴ صفحه ۴۶۴)
پاملرنه دانبیاء علیهم السلام دپسواوبزو پوول دامت درمی سنبالولودیباجه اومقدمه وه اوښان اوغوایې پوول دومره ګران نه وی لکه څومره چی دپسواوبزو پوول ګران وی پسونه اوبزی کله یوی چراګاه ته ځی اوکله بلی چراګاه ته ځي په یوه ګړی یوی خواته وی اوپه بل ګړی بیابلی خواته منډی وهی درمی څه بزی یوی خواته ځي اونوری بلی خواته اودشپانه هری خواته ځارکوی ، چی هسی نه چی لیوه یادرنده خوددوئ په خواکې نسته شپانه غواړی چی ټولی بزی اوپسونه یوځای کوی ځکه کوم پسه یابزه چی له رمی څخه بیل سی لیوه هم پرهغه یواځي پسه باندی حمله کوی ، سهار اوماښام شپانه په دې فکر کې وی اوپه رمه پریشانه اوخفه وی اوسرګردانه ګرزی ،، همدغه حالت دانبیاء علیهم السلام دوئ دامت داصلاح اوکامیابی په فکرکې شپه اوورځ سرګردانه وی دامت خلک

سیف لودین کتابتون

خود پسونو او بزو په شیر دي یوي او بلي خواته ځي او انبیاء علیهم السلام یې په پوره مهرباني او مینه د ځان خواته په نارو وهلو سره رابولي او د امت له پیغمې سره چې د غو حضراتو ته کوم تکلیف او مشقت رسیږي پر هغه د صبر او تحمل امر کوي او د دې ټولو خبرو سره سره په هیڅ وخت کې دوئ د دعوت او تبلیغ او لارښودنې او تعلیم څخه زړه ماتي کیږي نه او نه تنګیږي او لکه څنګه چې پسونه دلیوانو له ناڅاپه حملو څخه ناخبره وي دغه رنګه اُمت د نفس او شیطان له بربادونکیو حملو څخه ناخبره وي ، او پیغمبران علیهم السلام هر وخت په دې تاک کې او سیږي چې هسې نه چې نفس او شیطان دوئ برباد او هلاک کړي څو مره چې له پیغمبر ﷺ سره د امت د اصلاح او کامیابۍ فکر وي له امت سره د هغه لسمه برخه فکر هم نه وي له امت سره خود خپلې بربادۍ فکر هم نه وي د اخو پیغمبران علیهم السلام دي چې د امت د بد حالت په لیدلو سره دوئ د ننه د ننه ویلې کیږي .

الله عزوجل فرمایي :﴿لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفۡسَكَ أَلَّا يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ﴾ (۳) الشعراء)

شاید ته د دوئ د ایمان نه راوړلو په وجه خپل ځان دلاسه ورکړې ،،

او په همدې وجه امت لارښودنه سوی :﴿ٱلنَّبِيُّ أَوۡلَىٰ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡ أَنفُسِهِمۡ﴾ (۶) سوره احزاب)

پیغمبر ﷺ د مؤمنانو په هکله د دوئ تر ځانو هم ډیر نژدې دی ..

او په یو قرائت کې دي (وهواب لهم) یعنې دا پیغمبر د دوئ پلار دی .

اې الله جل جلاله ته بیشمیره رحمتونه او بیپایه برکتونه پر ټولو پیغمبرانو علیهم السلام باندې په عام ډول سره او پر خاتم الانبیاء محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې په خاص ډول سره نازل کړې چې دوئ په پاکو خبرو سره موږ ناکاروته سمه سیده لار وښودله آمین

د شام دویم سفر او له نسطورا راهب سره د نبی کریم ﷺ لیدنه کتنه !

خدیجة الکبری رضی الله عنها د عربو له عزت مندی کورنی څخه یوه مالداره ښځه وه د هغې د نسبي شرافت او عفت او پاک لمنې په وجه په جاهلیت او اسلام کې په طاهره مشوره وه

(فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۰۰) زرقاني جلد ۱ صفحه ۱۹۹) زرقاني او فتح الباري باب تزویج النبی صلی الله علیه وسلم خدیجة رضی الله عنها و فضلها من باب المناقب ..

قریشو چې به کله تجارتي قافله لیږله نو خدیجه رضی الله عنها به هم خپل مال د مضاربت په ډول یو چاته ورکړ ، د خدیجة الکبری رضی الله عنها مال به د ټولو قریشو له مال سره برابر وو ، کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر شریف د پنځه ویش کالو سو او په مکه مکرمه کې د ده مبارک د امانت او دینداری ننداره وسوه او په مکه کې داسې څوک نه وو چې ده مبارک ته یې د آمین په لقب نه وې ویلې نو ځکه خدیجة رضی الله عنها و نبی کریم ﷺ ته پیغام ولیږی چې که ته زما د تجارت مال شام ته یوسې زه به تاته د نورو په نسبت دوچنده بدله درکړم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل آکا ابوطالب د مالي مشکلاتو په وجه دا پیغام قبول کړ ،

سیف لودین کتابتون

کله چی بُصری ته ورسیدی نوتریوه سایه لرونکي ونی لاندی کینستی هلته یوراهب اوسیدی چی دهغه نوم نسطورا وو هغه چی ولیدی سمدستی دده مبارک وخواته راغلی کله چی یې نبی کریم ﷺ ولیدی وې ویل له عیسی علیه السلام بن مریم څخه وروسته بیاتراوسه دلته له دده مبارک پرته بل هیڅ نبی نه دی کښېنسته سوی ،(۱) وروسته یې میسره ته وویل چی دده په سترګوکې سوروالی څه وخت وی، میسره وویل دده مبارک دسترګوسوروالی هیڅ کله نه ځی ، راهب وویل ، هوهمداسی دی(وَهُوَ نَبِيٌّ وَهُوَ آخِرُ الاَنْبِيَاء) داهغه نبی دی اودا اخر ی نبی دی. وروسته موږ.شام ته ورسیدورسو ل الله ﷺ په رانیولو اوخرڅولوبوخت وو ، په دې وخت کې دیوسړی له هغه مبارک سره څه شخړه راغله هغه سړی ورته وویل چی ته په لات اوعزی قسم وکوه ، دده مبارک وفرمایل ماهیڅ کله په لات اوعزی قسم نه دی اخیستی ، دده مبارک وفرمایل کله چی زه پرلات اوعزی ناڅاپه ورسم نوزه په مخ اړولوسره تردوئ تیریږم ، ددې خبری په اوریدوسره هغه سړی وویل چی رښتیاهم ستاخبره صحی دی یعنی ته رښتینی اوصادق یې .

اوبیاهغه سړی وویل : چی والله داهغه سړی دی چی دده صفت اوشان زموږ علماء په خپلو کتابوکې لیکلی پیداکړی دی ، میسره وایې : (۲)چی کله به غرمه سوه اوډیره ګرمی به سوه نومابه دوې ملکې لیدی چی هغه به راغلی اوپه رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې سایه کړی وه ، خدیجه رضی الله عنها هم له لوړی خونی څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حالت کې ولیدی نوټولوښځوته یې وښودی ټولوښځوتعجب وکړ له دې وروسته میسره دسفر ټول حالات اوپیښې بیان کړه اورسول الله صلی الله علیه وسلم دتجارت مال خدیجة رضی الله عنها ته وسپاري په دې ځل درسول الله صلی الله علیه وسلم په برکت خدیجه رضی الله عنها ته دومره ګټه ورسیده چی له دې مخکې یې هیڅ کله هم نه وه لیدلی خدیجة رضی الله عنها چی دڅومره بدلی ژمنه کړی وه نبی کریم ﷺ ته یې ترهغه زیاته ورکړه (۳)

ددې قصه له راوړلو وروسته یې لیکلی دی چی داقصه واقدی اومحمدبن اسحق اوابن سکن روایت کړی یعنی ددې پیښې راوی واقدی نه دی بلکې محمدبن اسحق اوابن سکن ددې روایت کړی واقدی دجمهوروعلماء په نزدضعیف دی اومحمدبن اسحق تابعی دی دجمهوروپه نزد ثقه دی .

---

(۱) دابن سعدپه روایت کې بعدعیسی لفظ نسته دالفظ علامه زرقانی نقل کړی دی ددې کلام یوه معنی خودادی چی موږدرته بیان کړه چی دحضرت عیسی علیه السلام څخه وروسته بل نبی تردې ونه لاندی نه کینستلی ، دامطلب علامه سهیلی په روض الانف کې ذکرکړی دی ،، اودویم معنی دادی چی عزبن جماعه کړی چی کیدای سی دعیسی علیه السلام څخه وروسته ددې ونی لاندی هیڅ سړی هم نه وی کینستلی نه نبی اونه بل څوک اوله نبی علیه السلام پرته دهیڅ یوه انسان نه ناسته داهم له خلاف العادة کاروڅخه دی لکه چی له یوشمیر روایاتومعلومیږی ..

(۲) داسی ښکاره کیږی چی میسره دنبی کریم ﷺ تربعثت مخکې وفات سوی دی حافظ عسقلانی په اصابه کې فرمایې : چی په هیڅ صحیح روایت سره تراوسه دمیسره وصحابی کیدل نه دی ثابت سوی ، زرقانی جلد۱ صفحه ۱۹۸)

سیف لودین کتابتون

امام احمد رحمة الله علیه فرمایي : چی د محمد بن اسحق حدیث زما په نزد حسن دی ، واقدی که څه هم د محدثینو په نزد متروک دی مګر د حدیثو هیڅ کتاب د واقدی له روایت څخه خالي نه دی ، حافظ ابن تیمیه رحمة الله علیه په الصارم المسلول صفحه ۹۶ کې فرمایي : چی واقدی که څه هم ضعیف دی مګر دده په اعلم الناس بالمغازی کیدو کې د هیچا خبره نسته امام شافعی رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه او نورو امامانو به د واقدی له کتابو ګټه اخیسته انتهی کلامه

لنډه دا چی دا روایت له محمد بن اسحق او واقدی دواړو څخه نقل کړی دی او د محمد بن اسحق روایت د محدثینو په نزد معتبر دی ، د حسن څخه کم نه دی او د واقدی روایت که څه هم ضعیف دی مګر د حسن حدیث لپاره بیشکه تائید کونکی او شاهد جوړیدای سی

د میسره د قصی څیړنه او پلټنه او د سیرت د دري امامانو یادونه او و هغوئ ته لنډه کتنه

د میسره د قصی روایت لکه څرنګه چی محمد بن اسحق او واقدی دواړو څخه روایت سوی دی چی د هغه په جرح او تعدیل کې علماء ډیری خبری کړی دی په دې وجه موږ غواړو چی په دې ځای کې د سیرت د دري امامانو څه حال لوستونکو ته وړاندی کړو چی په سیرت او غزاګانو کې ډیر مشهور دی لومړی (۱) موسی بن عقبه (۲) محمد بن اسحق (۳) واقدی ، د دې لپاره چی د سیرت د ټولو روایاتو صحیح مرتبه معلومه سی

(۱) موسی بن عقبه رحمة الله علیه

موسی بن عقبه مدنی د زبیر بن العوام رضی الله عنه د کورنۍ آزاد سوی مریئ او تابعی دی منل سوی او متفق علیه ثقه دی هیچا پر ده جرح نه ده کړی امام مالک او سفیان بن عیینه او عبدالله ابن مبارک رحمة الله علیهم له موسی بن عقبه څخه روایت نقل کړی دی په کال ۱۴۱ هجری کې وفات سوله نوموړی څخه شپږو امامانو په صحاح سته کې هم روایتونه نقل کړی دی ، امام مالک رحمة الله علیه به د موسی بن عقبه د کتاب المغازی په اړه فرمایل : چی دا اصح المغازی دی ، مګر د موسی بن عقبه د کتاب المغازی هیڅ نسخه موجوده ده دی ، البته د سلفو په کتابو کې بیل بیل روایتونه دده پیدا کیږی ..

(۲ محمد بن اسحق رحمة الله علیه)

محمد بن اسحاق بن الیسار مطلبی مدنی تابعی دی ، د سیرت او غزاوو امام دی جمهورو علماء دده توثیق کړی دی امام مالک رحمة الله علیه پر ده جرح کړی ، حافظ ذهبی په تذکرة الحفاظ کې لیکي چی محمد بن اسحق په خپله رښتینی او غوره دی مګر دده حدیث د صحت تر درجه کښته دی امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه د ته حسن الحدیث ویلی دی (انتهی)

علی بن مدنی فرمایي چی د محمد بن اسحق حدیث زما په نزد صحیح دی ، نسائی وایي قوی نه دی ، دار قطنی وایي ، د دلیل وړ نه دی ، اما مالک رحمة الله علیه وایي نوموړی دجال دی

سيف لودين کتابتون

کې له ده څخه هيڅ موصول روايت نه دی اخيستی البته تعليقاً يې له ده څخه روايت اخيستی دی اصحاب سنن له محمدبن اسحق څخه روايت نقل کړی دی .اوامام مسلم دبل په واسطه له نوموړی څخه روايت کړی دی په کال ۱۵۱هجری کې وفات سوی دی ، دمغازی ابن اسحق اصل نسخه ورکه سوی خودسيرت ابن هشام نسخه چی اوس موجو ده دی هغه په اصل کې دسيرت ابن اسحق نسخه دی چی په نوی طرز اوطريقه سره ابن هشام مرتب کړی ده ، په محمدابن اسحق باندی دوې جرح سوی دی اول داچی ده به په روايت کې تدليس کوی ، دويم داچی ده به دخيبر اونوروغزاگانوپوښتنه له يهودڅخه کوله ، دويمه وجه موجب دجرح نه دی ځکه دښې پلټنې دپاره له يهودوڅخه دپيښو پوښتل داعتراض وړنه دی خوپريهودو باندی باورکول اوددوئ له رواياتو څخه احکام شرعيه ثابتول صحيح نه دی ، مگر په دنياکې هيڅ مسلمان دانه سی ويلای اونه چيری داويل سوی دی چی محمدبن اسحق دخيبريهود ثقه گڼلی دی اونه هيڅ دادنی عقل خاوندمسلمان دکافرڅخه روايت کولای سی اونه هغوئ ته ثقه ويلای سی اوچاچی دا سی وګڼل غلط کار يې وکی اوپاته سوه دتدليس خبره په خپله ائمة الحديث په دې تصريح کړی چی دتدليس عنعنه معتبره نه دی ترڅوچی دهغه سماع ثابته نه سی .

(۲) واقدی رحمة الله عليه)

ابوعبدالله محمدبن عمر بن واقد الواقدی المدنی ، دسيرت اومغازی امام اوجليل القدر عالم دی .دامام مالک اوسفيان ثوری اومعمربن راشد اوابن ابی ذئب له شاګرادانوڅخه دی کذافی تاريخ ابن خلکان جلد ۱ صفحه ۶۴۰ اودده شاګرد محمدبن سعد دطبقات مصنف دسفيان بن عيينه له شاګردانوڅخه هم دی تاريخ ابن خلکان صفحه ۶۴۲ واقدی په کال ۱۳۰ هجری کې پيداسوی دی اوپه کال ۲۰۷ هجری کې وفات سوی دی ميزان الاعتدال جلد ۳ صفحه ۱۱۱ دواقدی په اړه دمحدثينو الفاظ مختلف دی ، امام شافعی رحمة الله عليه اوامام احمد رحمة الله عليه واقدی ته کذّاب اودهغه کتابونو ته يې دروغ ويلی دی ، اما م بخاری اوابوحاتم متروک الحديث ورته ويلی دی ، علی بن المدنی اونسائی واضع الحديث ورته ويلی دی ، اودائمة الحديث يوی ټولی دئ ضعيف گڼلی دی يعنی واقدی ضعيف دی کاذب نه دی ، يحی بن معين وايې واقدی ثقه نه دی ، دارقطنی وايې فيه ضعف يعنی په واقدی کې څه ضعف سته ، دعلماء يو کوچنی ټولی دواقدی توثيق کړی دی اوده ته يې ثقة ويلی دی . يزيد بن هاورن وايې واقدی ثقه دی ، ابوعبيده اوابراهيم حزلی هم دده توثيق کړی دی ، دراوردی وايې چی واقدی اميرالمؤمنين فی الحديث دی،حافظ ابن سيدالناس دعيون الاثرپه مقدمه کې له بيلابيلوقولو راوړلو

سیف لودین کتابتون

او حافظ ابن الحجر په فتح الباری کې فرمایي ::

وقد تعصب مغلطائی للواقدی فنقل کلام من قواه للواقدی وسکت عن ذکر من وهاه واتهمه وهم اکثر عدداً واشد اتقاناً واقوی معرفة به من الاولین ومن جملة ماقواه به ان الشافعی روی عنه وقد اسند البیهقی عن الشافعی انه کذبه کذا فی انهاء السکن مقدمة اعلاء السنن صفحه ۷۵)

ژباړه : حافظ مغلطايې د واقدي په ملګرې کې له تعصب کار اخیستی دی ځکه کومو خلکو چې واقدی ته ثقه او قوی ویلی دی دهغوئ کلام یې ذکر کړی دی او کومو خلکو چې واقدی ته ضعیف ویلی اومتهم کړی یې دی دهغوئ له یادولو مغلطائی پټه خوله سوی دی او سره له دې چې پر واقدی باندی جرح کونکي تر توثیق کونکیو په شمیر کې هم زیات دی او په ضبط او اتقان او علم او پیژندنه او پوهه کې هم ترده مخکې دی او د واقدی په قوت کې یې دا دلائل وړاندی کړی دی چې امام شافعی رَحِمَهُ اللّٰهُ عَلَیْهِ له نوموړی روایت نقل کړی دی ، او سره له دې چې بیهقی په خپل سند سره له امام شافعی رَحِمَهُ اللّٰهُ عَلَیْهِ څخه نقل کړی دی چې واقدی دروغجن دی .

دحافظ ابن حجر رایه داده چې کله په یوراوی کې جرح او تعدیل توثیق او تضعیف یوځای سی نو ده یرو خبری ته ترجیح ورکول کیږی له دې وجی د واقدی جرح ته پر توثیق باندی ترجیح ورکول په کار دی ځکه د واقدی جرح کونکي تر تعدیل کونکو ډیر دی ..

حافظ مغلطائی رایه داده : چې د تعارض په صورت کې توثیق او تعدیل ته ترجیح ورکول پکار دی که څه هم تعدیل او توثیق کونکي لږ دی ، ځکه اصل په علماء کې عدالت او ثقت دی خصوصاً په خیر القرون کې چې ترڅو د راوی فسق ثابت نه سی تر هغه وخته پوری دهغه روایت نه ردیږی ، لکه چې الله تعالی فرمایي :(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ(سورة الحجرات آیت ۶)

که فاسق تاسو ته خبر راوړی نو دهغه خبر پلټنه کوی ، او په یو قرائت کې د فتبینوا پر ځای فثبتوا راغلی دی یعنی که فاسق خبر درته راوړی نو په هغه کې تثبت او احتیاط کوی په ردکولو کې تلوار مه کوی د تبیّن او تثبت حکم دهغه راوی د خبر په اړه دی چې دهغه فسق ثابت سوی وی ځکه الله ﷻ فرمایي (إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ) نو دچا چې فسق هم نه وی ثابت سوی په هغه کې خو به نور هم ډیر احتیاط اړتیا وی په دې بنا باندی حافظ مغلطای د واقدی په اړه له تعصب څخه کار نه دی اخیستی بلکې د انصاف څخه یې کار اخیستی دی چې د توثیق او تعدیل قول یې غوره کړی دی ، او دګوت نیونکو او تورلګونکو وډیر والی ته یې نه دی کتلی ، او دفقهاؤ لاریې غوره کړی ده . چې کله په یو راوی کې توثیق

سیف لودین کتابتون

کله په یوراوی کې جرح اوتعدیل یوځای سی نودنامعلومی جرح په مقابل کې تعدیل ته ترجیح ورکوی که څه هم دتورلګونکوشمیر ترمعدلینوډیر وی اواحتیاط هم په قبلو لوکې دی نه منل داحتیاط خلاف دی دحافظ بدرالدین عینی په شرح بخاری اوپه شرح دهدایه کې اودشیخ ابن همام دهدایه په شرح کې هم همداطریقه کاردی چی توثیق اوتعدیل ته ترتضعیف اوجرحی ترجیح ورکوی اودامام احمدابن حنبل رحمة الله علیه هم همدامسلک دی (۱) ترڅوچی دراوی په ترک باندی ټول علماء متفق نه سی ترهغه وخته پوری امام احمد رحمة الله علیه دهغه روایت نه پریږدی په مسند کې یې له سره ترپایه پوری په همدې طریقه روایتونه راوړی دی ابوداؤد اونسائی هم په مسند کې پردې طریقه روان د ی نومعلومه سوه چی دحافظ مغلطائي دواقدی توثیق اوتعدیل ته ترجیح ورکول په دې اصولوباندی مبنی دی په تعصب باندی مبنی نه دی دواقدی په اړه چی کوم مختلف اقوال موږ نقل کړی دی هغه ټول دحافظ ذهبی دمیزان الاعتدال جلد ۳ صفحه ۱۱۰څخه راخیستل سوی دی عجیب خبره دادی چی دواقدی په اړه دحدیثو دامامانو ټول اختلاف دحافظ ذهبی مخ ته دی اوسره له دی په پای کې حافظ ذهبی وایې :استقر الاجماع علی وهن الواقدی ددومره اختلاف په شتون کې داجماع دعوی بیخی بی بنسټه اوبیځایه دی .

حافظ ابن تیمیه په الصارم المسلول کې فرمایې مع مافی الواقدی من الضعف لایختلف اثنان ان الواقدی اعلم الناس بتفاصیل امور المغازی واخبر باحوالها وقدکان الشافعی واحمد وغیرهما یستفیدون علم ذلک من کتبه)

ژباړه : سره له دې چی واقدی ضعیف دی په دنیاکې هیڅ دوه کسان هم په دې هکله اختلا ف نه لری چی واقدی ترټولوډیر په غزاګانو باندی پوه دی اودغزاګانو داقوال او تفصیلا تو په پیژندنه کې ترټولوډیر خبردی اوامام شافعی رحمة الله علیه اوامام احمد رحمة الله علیه اونوروعلماء به دواقدی له کتابو څخه ګټه پورته کوله انتهی)

اوپه دنیاکې دسیرت اومغازی او هیڅ داسی کتاب نسته چی هغه دې دواقدی له روایت څخه خالی وی فتح الباری اوزرقانی شرح مواهب دواقدی درواياتو څخه ډک دی اوپه خپله علامه شبلی هم ډیر روایتونه له واقدی نقل کړی دی علامه شبیلی دسیرت النبی په ډیروځایو کې دطبقات ابن سعد هغه روایتونه راوړی دی چی دهغو اول راوی واقدی دی علامه شبلی دطبقات صفحه اوجلد هم ورکړی دی مګر په هغه ځای کې یې دانه دی ویلی چی ددې روایت لومړی راوی واقدی دی چی هغه دعلامه په نظرمشهور دورغجن اوافسانه جوړونکی اودیادولووړنه دی اوځای دهغه داسی یادونه کوی چی هیڅ د منلووړنه وی .مګر کله چی شبیلی ددې مشهوردورغجن څخه روایت نقل کوی نودده نوم نه یادوی خوددروغجن محترم شاګردابن سعدپه نامه یې راوړی عجیبه دی چی شاګردیې محترم اواستاذیې دروغجن دی اوداستاذروایت دشاګردپه نامه راوړ ی

(۱)قال یعقوب قال لی احمد مذهبی فی الرجال انی لااترک حدیث محدث حتی یجتمع اهل مصر علی ترک حدیثه کذافی التهذیب جلد ۵ صفحه ۳۷۷)

سیف لودین کتابتون

په سیرت النبی صلی الله علیه وسلم کې دواقدی روایات

اوس دنمونې په ډول دواقدی څوروایتونه لوستونکوحضراتوته وړاندې کوو هغه چې علامه شبلي په سیرت النبی ﷺ کې راوړی دی
(۱۔ قصی دمرګ په وخت کې دحرم ټول منصبونه وخپل مشرزوی عبدالدار ته وسپارل ، طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۴۱) سیرت النبی جلد ۱ صفحه ۱۵۴) علامه داواقعه له طبقات ابن سعد څخه نقل کړی ده چې هغه یوائې له واقدی څخه نقل کړی دی
(۲۔ دعبدالله صاحب په میراث کې اوښان پسونه اویوه مینځه چې دهغې نوم ام ایمن وه پاته سوه الخ ، طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۶۲ سیرة النبی صفحه ۱۵۸ جلد ۱ داواقعه هم په طبقات کې یوائې له واقدی څخه نقل سوی له واقدی وروسته هیڅ سند نه دې یاد سوی
(۳۔ ابن سعدپه طبقات جلد ۱ صفحه ۷۱ کې روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ به فرمایل چې زه ترتاسوټولوډیرفصیح یم ځکه زه دقریشوله کورنۍ څخه اوزماڅښه دبنی سعدڅښه ده ، سیرت النبی جلد ۱ صفحه ۱۶۲ددې راوی هم محمدبن عمر واقدی دی .
(۵۔ علامه شبلي په سیرة النبی جلد ۱ صفحه ۴۴۰ کې دخیبردغزا په بیان کې لیکی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عام اعلان وکوی ، لایخرجن معنا الاراغب فی الجهاد ، زموږ سره به یوائې هغه څوک وزی چې دجهاد غوښتونکی وی ،ابن سعد)داروایت یې هم دابن سعدپه حواله نقل کړی دی چې هغه دواقدی څخه روایت سوی دی .
آیا دادعلم اوامانت خلاف نه دی چې کله یوروایت نه منی نودواقدی نوم یادوی که څه هم دهغه روایت راوی له واقدی پرته بل څوک وی اوهغه ثقه هم وی ، اوکله چې دواقدی روایت راوړی نودواقدی نوم نه یادوی بلکې دهغه دشاګردپه نامه اکتفاء کوی اوپه پټه خوله په هغه باندی تیریږی .
خلاصه :دواقدی په اړه ثابت اوښه پلټل سوی اونږدی وحق ته دادی چې واقدی ضعیف دی خو دروغجن اوله ځانه جوړونکي نه دی ، دواقدی دروایت داسی حکم دی لکه د ضعیف راوی دروایت حکم چې دی او ترڅوچې بل صحیح حدیث ددې ضعیف حدیث مقابل نه وی ترهغه وخته پورې ضعیف حدیث نه پریښودل کیږی خصوصاً بیاهغه وخت چې هغه ضعیف حدیث په ډیرو طریقواومختلفوسندوسره نقل سوی وی .
دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه څخه په تواترسره نقل سوی دی چې ضعیف حدیث زماپه نظر د خلکوترراپه ډیر غوره دی ، اما م ابوحنیفه رحمة الله علیه چې به کله په یوه مسئله کې صحیح حدیث پیدانه کی نوضعیف حدیث ته به یې دقیاس په مقابله کې ترجیح ورکوله ، دضعیف حدیث مطلب دانه دی چې دمنلووړنه دی بلکې مطلب یې دادی چې دضعیف حدیث ضعف ته وګوره اوکله چې دصحیح حدیث اوضعیف په مینځ کې تعارض راسی نو

صحی حدیث ته ترجیح ورکړه ، او که هیڅ صحیح حدیث پیدا نه سو نو وضعیف حدیث ته پر خپله رایه ترجیح ورکړه ، ځکه رایه بالذات ضعیفه او کمزوری ده او په حدیث نبوی کې بالذات ضعف نسته خو په سند او طریقه دراوړلو کې ضعف وی او دا عارضی شی دی ذاتی نه دی او د رایه ضعف ذاتی دی .په دې وجه به ضعیف حدیث پر رایه مخکې کیږی او دضعیف روایت دقبلولو شرائط د اصول حدیث په کتابو کې ذکر سوی دی ، هغو ته رجوع وکوی . هذا ما ظهر لی فی هذا المقام والله سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتم واحکم .

حافظ عراقی رحمه الله علیه په الفیة السیرة کې فرمایې

ثم مضی للشام مع میسره .... فی متجر والمال من خدیجه

من قبل تزویج بها فبلغا .... بصری فباع وتقاضی ما بغا

وقد رأی میسرة العجائب .... منه وماخص به مواهباً

وحدث السیدة الجلیة .... خدیجة الکبری فاحصت قیله

ورغبت فخطبت محمدا .... فیالها من خطبة ما اسعدا

وکان اذ زوجها ابن الخمس .... من بعد عشرین بعد بغیر لبس

مسائل ! (۱) له دې روایته معلومیږی چی دیو سړی د پاره خلاف العادت کار لکه د ملائکه وو لیدل کیدای سی لکه په تیره پیښه کې چی میسره ملائکه وی په خپلو ستر ګول ولید ی چی د نبی کریم ﷺ پر سر باندی یې سایه کوله ،زرقانی جلد ۱ صفحه ۱۹۹)

او په قرآن کریم کې دی چی مریم علیها السلام جبرئیل امین علیه السلام ونور ملائکه ولیدلی او په صحیح بخاری کتاب الانبیاء کې راغلی چی هاجری ملکی ولیدلی او په اصابه کې ذکر سوی دی چی عمران بن حصین خپل کراماً کاتبین لیدلی

(۲) له ډیرو روایاتو دا معلومه سوه چی پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی دوریځي سایه کول د حلیمه سعیده په کور کې او ددې زامنو په خپلو ستر ګو ولیدلی چی وریځی په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی سایه کړی وه اود شام په لومړی سفر کې بحیرا راهب د رویځي سایه په خپلو ستر ګو ولیدله او نورو ته یې هم وښودله په ترمذی کې د ابو موسی رضی الله عنه په روایت را نقل سوی ، علامه ابن حجر مکی په شرح د قصیده همزیه کې ویلی دی چی د ترمذی روایت په دې هکله تر ټولو ډیر صحی دی لکه چی عزبن جماعه وایې چی څوک داوایې چی پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی دوریځي د سایه کولو حدیث د محدثینو په نزد صحیح نه دی نو دده دا خبره بالکل غلطه او بی بنیاده ده هو دا خبره منم لکه حافظ سخاوی چی وایې چی دوریځي سایه کول همیشه نه وو بلکې کله کله به وو لکه چی په حدیث کې

سیف لودین کتابتون

ګرمی وسوله نوابوبکر صدیق ؓ په خپل پټو باندی پرهغه سایه وکړه اودغه رنګه دجعرانه په غزا کې په رسول الله ﷺ باندی دکالی سایه جوړه سوله صحابه ؓ فرمایې : چی کله موږ به سایه لرونکي ونه ولیدله نوهغه به مورسول الله ﷺ ته پرېښودله (۱)

دخدیجة الکبری ؓ له نبی کریم ﷺ سره نکاح

دابن اسحق په روایت کې راغلی چی خدیجه ؓ درسول الله صلی الله علیه وسلم دسفر ټول حالات اودراهب وینا اودملائکه وو پرده مبارک باندی سایه کول، ټولی خبری ورقه بن نوفل ته بیان کړی ، ورقه بن نوفل وویل چی خدیجی ؓ که داپیښې رښتیا وی نوبیایقیناً محمدصلی الله علیه وسلم ددې امت نبی دی اوزه ښه پوهیږم چی په امت کې یونبی راتلونکی دی اودهغه انتظار موږکوو اودهغه وخت رانژدی سوی دی (۲) کله چی خدیجه ؓ داخبره واوریده دخدیجی ؓ په زړه کې له رسول الله ﷺ سره دنکاح مینه پیداسوه دشام دسفردراستنیدو دوې میاشتی اوپنځه ویشت ورځي وروسته په خپله خدیجة ؓ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دنکاح پیغام ولیږی رسو ل الله صلی الله علیه وسلم دخپل آکا ابو طالب په مشوره پیغام ومنی په معلومه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپل آکا ابو طالب اوحضرت حمزه ؓ اودکورنۍ له نورو مشرانو سره یوځای دخدیجه ؓ وکورته تشریف یوړی مبردوایې چی دخدیجه ؓ پلاردحرب الفجار ترجګړه مخکې وفات سوی وو دنکاح په وخت کې دخدیجة ؓ آکا عمرو بن اسد ژوندی وو یوشمیرنوربیاوایې چی دنکاح په وخت کې دخدیجه ؓ پلار خویلدهم ژوندی وو اوموجودوو علامه سهیلی وایې چی دمبردخبره صحی دی اوهمداخبره له جبیر بن مطعم اوابن عباس اوعائشه صدیقه ؓ څخه نقل سوی دی ، روض الانف جلد ۱ صفحه ۱۲۲)

ابوطالب خطبه ولوسته وروسته نکاح وتړل سوه دخطبی آخری الفاظ داسی دی :

اما بعد فان محمدا ممن لا یوازن به فتی من قریش الارجح به شرفاً ونبلا وفضلا وعقلا وان کان فی المال قل فانه ظل زائل وعاریة مسترجعة وله فی خدیجة بنت خویلد رغبة ولها فیه مثل ذلک (۳)

ژباړه :وروسته دادی چی محمد ﷺ هغه دی چی په قریشوکې هرځوان هم په شرافت اولوړوالی اوغوره والی اوعقل کې دده سره وتلل سی نودئ به تردروندوی په مال کې که څه هم کم دی مګر مال تلونکي سیوری دئ اوپردئ شئ دی اوبیرته تلونکی دی دئ له خدیجة سره دنکاح مینه لری اوخدیجة له ده سره دنکاح مینه لری دنکاح په وخت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمرشریف پنځه ویشت کاله وو اودخدیجة الکبر ؓ عمر

---

(۱) عیون الاثر صفحه ۵۴)

(۲)زرقانی جلد ۱ صفحه ۱۴۸)

سیف لودین کتابتون

څلویښت کاله وو شل اوښان مهر وټاکل سو ،سیرة ابن هشام اوحافظ ابوالبشر دولابی لیکی چی دمهر اندازه دوولس نیمې اوقیه وه یوه اوقیه څلویښت درهم کیږی ، له دې وجی شرعی مهرپنځه سوه درهم دی (۱) درسول الله صلی الله علیه وسلم دالومړی نکاح وه اوخدیجه رضی الله عنها تفصیلی بیان به ان شاء الله العزیز دازواج مطهراتو په بیان کې ذکر کړو

دکعبی آبادول اودرسول الله صلی الله علیه وسلم فیصله ، پریکړه)

ددنیاله پیدا کیدو وروسته دکعبه دخونی آبادي پنځه ځله سوی ده لومړی ځل آدم علیه السلام آباده کړه په دلائل بیهقی کې له عبدالله بن عمرو بن عاص رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چی الله تعالی جبرئیل علیه السلام آدم علیه السلام ته دبیت الله شریف دآبادولو دحکم لپاره ولیږی کله چی آدم علیه السلام دکعبی له آبادۍ خلاص سو نوحکم ورته وسو چی ددې کورپرشاوخوا اوګرزه اوداورته وویل سوچی ته لومړنئ انسان یې اودالومړی کور دی چی دخلکو دعبادت دپاره جوړسوی دی (فتح الباری جلد ۶ /صفحه ۲۸۴)کتاب الانبیاء باب قول الله تعالی (وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلاً ۱۲۵آیت سورة النساء)دویم کله چی دنوح علیه السلام په وخت کې طوفان راغلی نودبیت الله نوم اونښان ورک سو ابراهیم علیه السلام ته دبیت الله دبیرته جوړولو حکم وسو دبنیادونښې هم نه وې پاته جبرئیل علیه السلام راغلی دبیخ بنیاد نښې یې وروښودلی نوحضرت خلیل الله علیه السلام اوذبیح الله علیهما الف الف صلوة دالله عزوجل په کومک آبادی پیل کړه تفصیلی قصه په قرآن کریم کې ذکرسوی ده که موتفصیل په کاروی نو فتح الباری کتاب الانبیاء باب قول الله تعالی وَاتَّخَذَ اللهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلاً ۱۲۵آیت سورة النساء) اوتفسیرابن کثیر اوتفسیرابن جریر ته رجوع وکوی (فتح الباری جلد ۶ /صفحه ۲۸۵)

دریم ځل درسول الله صلی الله علیه وسلم ترپیغمبري پنځه کاله مخکې کله چی درسول الله ﷺ عمرشریف پنځه دیرش کاله وو قریشو دکعبی خونه آباده کړه دابراهیم علیه السلام په آبادۍ کې دکعبی خونی بام نه درلودی ددیوالولوړوالی یې لړوو دانسان ترقدلږزیات وو تقریبانه لویشتی په اندازه لوړوو دوخت دتیریدوپه وجه ډیرزاړه سوی وو په نشیب کې دکیدوپه وجه دباران ټولی اوبه دننه ورتلی ځکه قریشوته دکعبی دجوړیدوفکرپیدا سو کله چی دقریشوټول مشران پر دې باندی اتفاق سوچی بیت الله شریف ونړوی اوبیر ته یې له سره جوړه کړی نوابووهب بن عمرو مخزومی (درسول الله صلی الله علیه وسلم دپلار ماما) ودریدی اوقریشوته یې وویل چی ګوري دبیت الله شریف په آبادی کې چی هرڅه مصرف اوخرچ کیږی هغه به دحلال کسب وی دزنا ، غلا، سود اوداسی نوروناروا وپیسی به په دې کې نه مصرفیږی یوائی حلال مال دې ددې په آبادی کې

(۱) زرقانی جلد ۱ صفحه ۲۰۲)

سیف لودین کتابتون

مصرف سی الله تعالی پاک دی او پاک خوښوی دغه په کور کې پاکی پیسی مصرف کی
وودې لپاره چی دبیت الله شریف دآبادی له شرافت څخه شوک بی برخی پاته نه سی ځکه
دبیت الله شریف آبادي پرېيلا بيلو تبرو باندی وویشله چی فلانی قبیله به دبیت الله شریف
فلانی برخه جوړوی او فلانی قبیله به دبیت الله شریف فلانی برخه جوړه وی ددروازی
خوا دبنی عبد مناف او بنی زهره په برخه کې راغله او حطیم دبنی عبد الدار بن قصّی او ابن
اسد او دبنی عدی په برخه کې راغله په همدې وخت کې قریشو ته داخبرورسیدی چی یوه
تجارتی کښتی دجدّی له بندرګاه سره جنګیدلی او ماته سوی ده ، ولید بن مغیره چی خبر
سو سمدستی جدی ته ولاړی او دهغې کښتی تختی یې دکعبی شریف دبام دپاره راوړی
په هغې کښتی کې یورومی مستری هم وو دهغه نوم باقوم وو ولید بن مغیره دبیت الله
شریف دجوړولو لپاره هغه هم له ځان سره راوستی .قال الحافظ رجاله ثقات مع ارساله (
الاصابة جلد ۱ صفحه ۱۳۷)
له مشورو او پریکړی وروسته چی کله دزړی آبادی دنړیدلو وخت راغلی نو دهیچا داهمت
نه وو چی دبیت الله شریف ونړوی خو بالاخره ولید بن مغیره ولاړسو داسی یې وویل :
اللهم لانرید الاالخیر ، اې الله ﷻ موږ یوائی دخیراونیکی نیت لرو . زموږ نیت بدنه دی
دایې وویل دحجراسوداورکن یمانی له خوایې شروع په وکړه دمکی خلکو وویل چی
دشپي انتظار وکوی چی پرولید باندی کوم اسمانی مصیبت نازلیږی که پرده باندی کوم
اسمانی مصیبت او آفت نازل سو نو موږ به بیت الله شریف بیرته په اصلی حالت جوړوو او
که داسی نه وو نو موږ به هم دولید مرسته کوو کله چی سهار سو خلکو ولیدل چی
ولید روغ رمټ حرم شریف ته راغلی . خلک په دې پوه سو چی زموږ په کار الله ﷻ خوشا
له کیږی دتهولو همتونه لوړ سو او ټول په اتفاق سره په زړه او بدن سره په دې کار کې شریک
سو او دومره یې وکیندله چی دحضرت ابراهیم علیه السلام دوخت بنیادونه رابښکاره سو یو
قریشی چی کله په بنیاد ابراهیمی باندی کولنګ ووهی نوناڅه په مکه کې سخته زلزله
راغله دوئ هم سمدستی له نور کیندلو لاس واخیستی او په همدغه بنیادو باندی یې
آبادی پیل کړه کله چی آبادی پوره سوه او دحجر اسود پر خپل ځای داېښودو وخت راغلی
دویش برابر هری قبیلی بیل بیل آبادی شروع کړه دحجراسود دایښودو په وخت کې سخت
اختلاف پیدا سو ، توری راوایستل سوی او خلک جګړی او مرګ ژوبلی ته تیار سول کله
چی څلور پنځه ورځي دغه رقم تیری سوی او هیڅ خبره معلومه نه سوه نو ابو امیه بن مغیره
مخزومی چی په قریشو کې تر ټولو ډیر معتبر او سپین ږیری وو دارایه ورکه چی صبا سهار

سیف لودین کتابتون

چې هرسړی ترټولو مخکې مسجد حرام ته ددروازی له لاری داخل سی هغه به خپل حاکم جوړ کړی او خبره هغه ته وسپاری ټولو دا رایه خوښه کړه .

صبا سهار ټول خلک حرم ته راغلو که ګوری ترټولو مخکې راتلونکی محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دی دهغه په لیدو سره دټولو له ژبی بی اختیاره دا لفظ ووتی :

هذا محمد الامين رضينا هذا محمد الامين : ژباړه : دا خو محمد ﷺ امانت ساتونکی دی موږ ټول دهغه په حاکم جوړیدو باندی راضی یو دا خو محمد ﷺ امانت ساتونکی دی .

نبی کریم ﷺ وړاندیز وکړ چې یوپټو راوړی حجر اسود یې په هغه کې کیښودی او وې فرمایل چې دهری قبیلې مشردې داپټو ونیسی ددې دپاره چې له دې شرافت څخه هیڅ قوم بی برخې پاته نه سی دافیصله ټولو خوښه کړه او ټولو په اتفاق سره پټوپورته کړ کله چې ټولو په یوه پلا پټو پورته کی دحجراسود اېښودو ځای ته ورسیدل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله مخکې سو او په خپل لاس مبارک یې حجر اسود په خپل ځای کې کیښودی (۱)

څلورم ځل عبدالله بن زبیر ﷺ دخپل خلافت په وخت کې بیت الله شریف شهیده کړه او له سره یې بیرته آباده کړه ..

پنځم ځل : حجاج بن یوسف جوړه کړه چې نه ترده مخکې اونه وروسته خلکو کې دده په څیر ظالم او تیری کونکي مثال نسته دتفصیل دپاره دتاریخ کتابونه وګوري

حافظ عراقی رحمة الله علیه په الفية السيرة کې فرمایي :

وَاِذْ بَنَتْ قُرَيْشٌ البَيْتَ اِخْتَلَفَ : مَلاَ هُمْ تَنَازُعًا حَتّٰى وَقَفَ
اَمْرَهُمْ فِيْمَنْ يَكُوْنَ يَضَعَ : الْحَجَرَ الْاَسْوَدَ حَيْثُ يُوْضَعُ
اِذْجَاءَ قَالُوْا كُلُّهُمْ رَضِيْنَا : لِوَضْعِهِ مُحَمَّدُ الْاَ مِيْنَا
فَحَط فِىْ ثَوْبٍ وَ قَالَ يَرْفَعُ : كُلُّ قَبِيْلٍ طَرَفًا فَرَفِعُوْا
ثُمَّهُ اَوْدَعَ الْاَمِيْنَ الْحَجَرَا : مَكَانَهُ وَقَدْ رَضُوْا بِمَا جَرٰى

دجاهلیت له رواج اودود څخه نبی کریم ﷺ ډیرلیری اوبیزاره وو !

انبیاء اورسولان که څه هم دنبوت اورسالت څخه مخکې نبی اورسول نه وی مګر ولی اوربنتیی خامخاوی اودهغه ولایت داسی پوره وی چې هرڅومره لوی ولی دهغه دولایت سره دومره نسبت هم نه وی لکه دیوه څاڅکی اوبوله دریاب سره یاده یوی وړانګی له لمرسره ، د ابراهیم عليه السلام په اړه الله ﷻ فرمایي :{ وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ } [الأنبياء : ۵۱] او دحضرت یوسف علیه السلام ټوله قصه

(۱) سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۶۵ روض الانف صفحه ۱۲۷ تاریخ طبری جلد ۲ صفحه ۲۰۰ زرقانی جلد ۱ صفحه ۲۰۳، ۲۰۶)

سیف لودین کتابتون

اوخصوصاً دهغه دالاربنودنه قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ وَإِلا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُنْ مِنَ الْجَاهِلِينَ (۳۳سورة الیوسف) اودالله جل وعلی شانه دیحی علیه السلام په اړه دا لاربنودنه : يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا (۱۲) وَحَنَانًا مِنْ لَدُنَّا وَزَكَاةً وَكَانَ تَقِيًّا (۱۳)سورة مریم) اوداسی نوری لاربنودنی ، داټول پردې دلالت کوی چی انبیاء علیهم السلام تربنوت اوپیغمبري له مخه هم دلوړو درجوخاوندان اودالله ﷻ دوستان دی همدا شان دنبی اکرم ﷺ دی نبی کریم ﷺ له لویه سره دشرک اوبت پرستي څخه اودشرک له ټولورواجو بیخی پاک اوبیزاره وو لکه چی دابن هشام په روایت کې راغلی دی :

فشب رسول الله صلی الله علیه وسلم والله یکلأه ویحفظه ویحوطه من اقذار الجاهلیة لمایرید به من کرامته ورسالته حتی بلغ ان کان رجلا وافضل قومه مروءة واحسنهم خلقا واکرمهم حسبا واحسنهم جوارا واعظمهم حلما واصدقهم حدیثا واعظمهم امانة وابعدهم من الفحش والاخلاق التی تدنس الرجال تنزها وتکرما اسمه فی قومه الامین لماجمع الله فیه من الامور الصالحة (سیرة ابن هشام جلد۱ صفحه ۶۲)

ژباړه : نبی کریم ﷺ په داسی حال کې ځوان سو چی الله تعالی دده ساتنه اوڅارنه کوله اودجاهلیت دټولوخرابیوې پاک اوخوندی وساتی ځکه الله تعالی داراده کړی وه چی هغه ته نبوت اورسالت اوهرقسم عزت اوکرامت ورکړی ترڅو چی هغه غټ سړی سو اودمیړانی اوښو اخلاقو اودکورنۍ عزت په حلم اوصبر اورښتیا اوامانت کې ترټولولوړ سو اوله بیحیایې اوبدو اخلاقو څخه ډیر لیری وو تردې چی هغه دامین په نوم مشهور سو دحضرت علی رضی الله عنه څخه روایت دی چی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چی تایووخت د بت عبادت کړی دی هغه وفرمایل نه بیاپوښتنه وسوه چی یووخت دې شراب څیښلی دی ، هغه وفرمایل نه ، اودایې هم وفرمایل چی مابه تل داشیان کفر ګڼل که څه هم ماته دکتاب اوایمان علم نه وو (اخرجه ابونعیم وبن عساکر) په مسنداحمد کې له عروه بن زبیر رضی الله عنه څخه روایت سوی دی : چی ماته دخدیجة الکبری رضی الله عنها یوه همسایه بیان کړی دی چی مادنبی کریم ﷺ څخه واوریدل چی خدیجة الکبری رضی الله عنها ته یې ویل چی قسم په الله ﷻ زه هیڅ کله دلات عبادت نه کوم (۱)

زیدبن حارثه رضی الله عنه فرمایې چی دجاهلیت په وخت کې چی به مشرکینو دبیت الله شریف طواف کوی نواساف اونائله (۲) بتان به یې مچول یوځل ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای دبیت الله شریف طواف کوي، کله چی زه د بتانو خواته تیریدم نوهغه مې مچ کړه رسول الله صلی الله علیه وسلم زه منع کړم ، ماپه خپل زړه کې وویل چی په ښکلولو سره څه کیږی په دې وجه مادویم ځل بیاهغه مچ کړه هغه زه بیالږ په سختۍ سره منع کړم وې فرمایل چی ماته نه وې منع کړی ، زید رضی الله عنه فرمایې قسم په الله ﷻ له دې

(۱) الخصائص الکبری جلد۱ صفحه ۹۵) (۲) اساف اونائله ده دووبتانو نومونه دی)

سیف لودین کتابتون

وروسته مې هیڅکله بت ته لاس نه دی وروړی ، ترڅو چې الله تعالی رسول الله ﷺ ته نبوت اورسالت ورکړ اوپه هغه باندي يې خپل کلام نازل کی ،داروایت په مستدرک دحاکم اودلائل ابی نعیم اودلائل بیهقی کې راغلی دی حاکم فرمايي چې داحدیث صحی دی دحضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت دی : چې مادنبی کریم ﷺ څخه واوریدل چې فرمایل يې دجاهلیت یوه خبره هیڅ وخت زماپه فکرکې نه دی راغلی یوائې دوه ځلی داسی فکرراته پیداسوخو الله ﷻ وساتلم اوزه يې له هغه څخه خوندی کړم یوه شپه ماخپلوملګروته وویل هغه چې له ماسره يې پسونه اوبزی پوولی چې ته بزی ګوره اوزه مکی ته ځم څه قصی اونکلونه اورم ، زه مکی ته راغلم دیوځای څخه دباجواوسرودآواز اوریدل کیدی ماپوښتنه وکړه چې داڅه پیښه ده یوچاراته وویل چې دفلانی واده دی ، زه هم ورغلم کښینستم خوسمدستی خوب راغلی اوالله ﷻ زماپه غوږو باندی مهرولګوی بیده سوم ،قسم په الله ﷻ دلمرګرمي زه راویښ کړم پورته سوم اودخپل ملګری خواته ورغلم ملګری پوښتنه وکړه چې وایه څه دې واوریدل ، ماوویل هیڅ هم نه اودخپل خوب بیان می ورته وکی ,,,په دویمه شپه ماییادغه اراده وکړه دالله ﷻ له طرفه بیادغه صورت راپیښ سو رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :چې قسم په الله ﷻ ددې څخه وروسته بیازماپه زړه کې داسی هیڅ خیال نه دی راغلی ترڅو چې الله تعالی ماته پیغمبری راکړه داحدیث په مسندبزار اومسنداسحق بن راهویه اونورو کې ذکر سوی دی .حافظ ابن حجر لیکی چې ددې حدیث سند متصل اوحسن دی ددې حدیث ټول راویان ثقه دی په بخاری اومسلم کې دحضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې دکعبی دآبادی په وخت کې به رسو ل الله صلی الله علیه وسلم کاڼی راوړل دده مبارک آکاعباس ﷺ ورته وو یل چې زویه لنګ خلاص کړه ددې دپاره چې دکاڼواودبروله کوټلوټکیدلو څخه خوندی سی هغه دخپل آکا په وینا لنګ خلاص کړ په خلاصولوسره سمدستی بی سده پرځمکه راولویدی ، له دې وروسته هغه هیڅ کله بربنډنه دې لیدل سوی .

دابوالطفیل ﷺ څخه روایت دی چې په دغه وخت کې رسو ل الله صلی الله علیه وسلم ته له غیب څخه دااواز وسو یامحمد عورتک ، اې محمد ﷺ دخپلی پردې خیال وساته داغیبی اواز ترټولو لومړني آواز وو چې نبی کریم ﷺ واوریدی ، دابوالطفیل ﷺ داروایت په دلائل ابی نعیم اودلائل بیهقی اومستدرک دحاکم کې ذکرسوی دی.حاکم فرمايي دا حدیث صحیح دی (۱)دابن عباس ﷺ په روایت کې راغلی دی چې ابو طالب له ده پوښتنه وکړه چې څه قصه وه هغه مبارک وفرمایل چې یو سپینو جامو والاانسان راښکاره سوهغه راته وویل اې محمد ﷺ خپل عورت پټ کړه .حاکم فرمايي چې داروایت صحی دی

اخرجه ابن سعدوابن عدی والحاکم وصححه ابونعیم من طریق عکرمة عن ابن عباس(۲)

سیف لودین کتابتون

یوه ورځ قریشو د رسول الله ﷺ په مخکې خوراک کیښودی په دې مجلس کې زید بن عمرو بن نفیل هم وو ،رسول الله ﷺ د خوراک له خوړلو څخه انکار وکی له ده مبارک وروسته زید هم انکار وکی اووې ویل چی زه دبتانو په نامه باندی دحلال سوی حیوان اودبتانو په نامه نذر نه خورم زه یوائې هغه شیان خورم چی په هغه باندی دالله ﷻ نوم واخیستل سی زید بن عمرو بن نفیل به قریشو ته ویل چی پسه الله ﷻ پیدا کړی دی او الله ﷻ دهغه دپاره واښه راشنه کړی دی تاسو یې ولی دبل چا په نامه حلالوی (فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۰۸)حدیث زید بن عمرو بن نفیل ، زید بن عمرو بن تفیل دحضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه داکازوی دی اودسعید بن زید (چی له عشره مبشره وڅخه دی) دهغه مبارک پلاردی دشرک اوبت پرستی څخه بیزاره اودحق دین په لټه کې وو ، تر بعثت پنځه کاله مخکې کله چی دکعبی شریف آبادی کیدله په هغه وخت کې وفات سو دتفصیل دپاره فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۰۸ تر ۱۱۰ صفحی پوری وګوري باب حدیث زید بن عمرو بن نفیل او الاصابه جلد ۱ صفحه ۵۶۹ ترجمه زید بن عمرو بن نفیل او طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۸۵ باب علامات النبوة قبل البعثة وګوري)

دوحی پیل اودنبوت زیري

له مخکې ذکرسوی رایاتو څخه داخبره ښه روښانه سوه چی انبیاء علیهم السلام ترنبوت مخکې هم له کفر اوشرک اوهرقسم بیحیایې اوبدو کارو څخه پاک اومنزه دی له پیله دد ې حضراتو پاک زړونه دالله ﷻ دیووالی اوویری اومعرفت څخه ډک وی ، داځنګه کید ای سی چی یوڅوک دکفر اوشرک دسرکوبی اودهری بی حیایې اوبدکاردمنع لپاره اوخیرته درابللولپاره دالله ﷻ له لوری رالیږونکی وی اودالله ﷻ پاک اوغوره اوښه بندګان جوړیدونکی وی معاذالله هغه دې دنبوت اورسالت او د پاکوالی اوغوره والی دنعمت ترلاسه کولو مخکې دکفراوشرک په پلیتی کې ککړ وی اودبی حیایئ اوبدو کارو په پلیتی سره اخته سی معاذالله ثم معاذالله داهیڅ وخت هیڅ کله امکان نه لری او دا بیخی محال دی چی انبیاء علیهم السلام دې ترنبوت اورسالت مخکې دکفراوشرک په پلیتی ککړ وی که څه هم نبی اورسول نه وی مګر خامخا به دلوړی درجی ولی عارف او پیژدو نکی دحق وی دالله ﷻ په صفاتو به خبروی اوهغه به هیڅ وخت دالله ﷻ په صفاتو کې هیڅ قسم تیروتنه اوغلطی نه کوی اونه به دده په زړه کې هیڅ قسم شک اوشبه وی .

الله ﷻ فرمایي :{ وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ } [الأنبياء : ۵۱]

ژباړه : یقیناً موږ ابراهیم علیه السلام ته مخکې لا دهغه دشان برابر لارښوونه کړی وه اوموږ هغه اودهغه استعداد مخکې لا ښه پیژندی .

(۱) نه بدء الوحی څخه مراد دنبوت پیل دی یعنی دوحی شروع څنګه وسوه اودنبوت له زیری څخه دنبوت اورسالت میش

سیف لودین کتابتون

اوس تاسوته رشد درپیژنو چی رشد څه ته وایې اورشید اوراشد چاته وایې دسورت حجرات دا آیت شریف ودې پیژندنی ته لاربنوونه کوی :وَاعْلَمُوا أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُولَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ (۷) فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَنِعْمَةً وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (۸) آیت سورة الحجرات)

ژباړه : پوه سی چی په تاسوکې دالله ﷻ رسول ﷺ دی که چیری هغه په ډیروخبروکې ستاسوخبره ومنی نوربنتیابه هم تاسوپه تکلیف کې ولویږی مگر الله ﷻ تاسوله دې تکلیف وژغورلاست اوتاسوته یې ایمان اوپیروی محبوبه کړه اوستاسوپه زړوکې یې وځلول اودکفر اوفسق اوګناه څخه نفرت یې ستاسوپه زړوکې واچوی داسی خلک چی دهغوئ په زړوکې دایمان اوپیروی محبت اوله کفراوګناه څخه بیزاری ټینګه سی دالله ﷻ په فضل اوانعام سره رشید اولاربنودل سوی دی او الله ﷻ خبیر اوحاکم ذات دی .

له دې آیت څخه ښکاره معلومه سوه چی په زړه کې دایمان اودالله ﷻ دپیروی محبت اوله کفر اوفسق اوګناه څخه بیزاری اوبدکیدل ددې شیانوپه زړه کې دټینګیدو نوم رُشد دی اودارُشد حضرت ابراهیم ؑ ته الله ﷻ ترنبوت مخکې لاورکړی وو لکه چی دسورت انبیاء له دې آیت څخه ښکاره سو .

اورُشدپه عربی لغت کې دضلالت اوګمراهي په مقابله کې استعمالیږی ، الله ﷻ فرمایې { لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (۲۵۶) سورة البقرة }

رشد اوهدایت ربنتیاهم له ګمراهی څخه بیل شئ دی اوله دې څخه ښکاره معلومیږی چی ابراهیم ؑ له پیل څخه په رُشد اوهدایت وو معاذالله ګمراه نه وو ، حضرت ابراهیم ؑ دستورواوسپوږمی اولمرپه لیدلوسره داویناکول هذاربی په دې سره دوخت یوشمیرمصنفین خطاوتلی دی (۱)دوئ ویلی دی معاذالله چی تردغه وخته ابراهیم ؑ په شک اوشبه کې وو کله چی ده داشیان ولیدل چی زائلیږی نوبیایې شک اوشبه زائله سوه حاشا ثم حاشا حضرت ابراهیم ؑ له پیل څخه لمر اوسپوږمی دالله ﷻ ادنی مخلوق

---

(۱)علامه شبیلی په سیرة النبی جلد۱ صفحه ۱۸۷کې په یوه کوچنی ټوټه کې لیکی چی ابراهیم ؑ ترنبوت مخکې ستوروته وکتل نوځنګه چی دوئ روښانه ځلیدل نونوموړی خطاسو سپوږمی راوختله نورهم په شک اوشبه کې سو په لمرباندی تردې زیات په شک اوشبه کې سو مګر کله چی ټول له سترګوپټ سو نوبی اختیاره یې وویل (انی لااحب الآفلین) انتهی کلامه) دعلامه شبلی خیال سراسر غلط دی چی ابراهیم ؑ خطاوتی معاذالله انبیاء کرام علهیم السلام دالله ﷻ په ذات اوصفاتوکې هیڅکله نه خطاکیږی اوحضرت ابراهیم ؑ ته خوپه انبیاء اورسولانو علیهم السلام کې یوخاص امتیازحاصل دی الله تعالی ملکوت السموات والارض وربنودلی وو اوهغه یې دموقنین څخه ګروزولی وو هغه په دې ښه خبروو چی لمراوسپوږمی اوستوری ټول دالله ﷻ دحکم مسخر اوتابعدار دی معاذالله ابراهیم ؑ هیڅ نه دی خطاوتلی ،بلکې علامه خپله په عقائد اسلامیه اودعربی عباراتوپه ترجمه کې خطاوتلی دی

سیف لودین کتابتون

ګڼل څرنګه چې دده قوم دستورو په عبادت اخته وو په دې وجه دهغوئ دفاسدی عقیدی دردلو لپاره یې وفرمایل چې که ته فرض کې دفرض محال په ډول دلږ ساعت لپاره داومنل سی چې داستوری ستاسو دعقیدی برابر زمارب دی نوډیر ښه دی تاسو لږ ګړی وروسته ددوئ دلویدلو اوډوبیدو انتظاروکوی اوپه خپله به ددوئ نیستی ووینی بیایې دغه رنګه دلمر اوسپوږمی عبادت کونکوته دلمر اوسپوږمی دنوی والی اونیستی کیدل وښودل ځکه دستورودعبادت کونکوداعقیده وه چې له لویدلو وروسته په ستوری کې هغه تاثیر نه پاته کیږی کوم چې دراختلوپه وخت کې وی نو که چیری خدای وی نوددوئ په صفت کې به تغیرنه راتلی ځکه دخدای ذات اوصفات خوله تغیر اوضعف څخه پاک اومنزه دی دحضرت ابراهیم ﷺ داټولی خبری له سره ترپایه پوری دمباحثی اومناظری په ډول وی لکه چې په وروسته آیت کې راځی

(وَحَاجَّهُ قَوْمُهُ قَالَ أَتُحَاجُّونِّي فِي اللَّهِ وَقَدْ هَدَانِ) الانعام آیت ۸۰) اوبل آیتؑ (وَتِلْكَ حُجَّتُنَا آتَيْنَاهَا إِبْرَاهِيمَ عَلَىٰ قَوْمِهِ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَّن نَّشَاءُ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ (۸۳) الانعام)

همدا آیاتونه ښکاره پردې دلالت کوی چې داټوله دستوروله عبادت کونکوسره مناظره اومجادله وه اوداهغه حجت اودلیل ودب چې الله ﷻ هغه ته دمناظری دپاره ښودلی وو حاصل دخبری دادی چې دامناظره دابراهیم ﷺ خپل نظر اوعقیده داسی نه وه آیا ابراهیم ﷺ له دې مخکې سپوږمی اولمر نه وولیدلی دغه رنګه په بخاری اونوروصحاح سته کې داحدیث موجوددی . عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ (صحیح البخاری رقم الحدیث ۱۳۹۶)

هرماشوم په فطرت داسلام باندی پیداکیږی وروسته دهغه مور اوپلار هغه یهودی یانصرانی یامجوسی وګرزوی

اودایې ونه فرمایل چې يُسَلِّمَانه معنی چې دده مور اوپلار یې مسلمان وګرزوی ځکه هغه فطرة مسلمان پیداسوی دی اوپه صحیح مسلم کې له عیاض بن حمار څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ په یوه خطبه کې وفرمایل :

وَإِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ (بعض الحدیث رقم ۵۱۰۹ صحیح مسلم)

الله تعالی فرمایې چې ماخپل بندګان فطرة حنفاء یعنی موحدین پیداکړی دی ..

نوهرکله چې ماشوم له لومړی سره حنیف موحد اوفطرةً پراسلام باندی پیداکیږی نوکوم سړی چې سپین ږیری وی اودټولوانبیاء علیهم السلام امام وی اودټولوحنفاؤ مقتدا اوپیشواوی دټولوموحدینوقدوه او اسوه وی دکفر اوشرک څخه بیزاره وی هغه به هرومرو خامخا له لومړی سره حنیف موحد اورشیدوی اودهغه فطرت به ترټولوډیرروغ

سیف لودین کتابتون

اوسالم وی او دهغه طبیعت به ترټولو ډیر مستقیم وی په قرآن کریم ځای ځای نبی کریم ﷺ ته دابراهیم علیه السلام حنیف دملت دپیروی امر سوی دی:

{ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ} [النحل: ۱۲۳]. ژباړه: بیاموږ تاته وحی وکړه چی دابراهیم علیه السلام حنیف دملت پیروی وکړه او هغه دمشرکینو څخه نه وو الله ﷻ فرمایي: قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ} [الأنعام: ۱۶۱]،

ژباړه: ته ورته ووایه چی الله ﷻ ماته سیده لاره ښودلی هغه یوصحیح دین دی چی د ابراهیم علیه السلام طریقه ده او په هغه کې یوه زره کوږوالی نشته او هغه له مشرکینو څخه نه وو. که موچیری تفصیل په کاروی نو امام جلیل وکبیر حافظ عمادالدین ابن کثیر قدس الله روحه وضریحه آمین تفسیرته رجوع وکوی.

دجاهلیت په وخت کې چی دکفر اوشرک تیاری هری خواته خپری سوی وی په هغه وخت کې زیدبن عمرو بن نفیل او ورقه بن نوفل اودیوشمیر نورو موحدینو اوحنفاؤ په زړو کې چی دکوم توحیدرڼا ځلیدله هغه دتوحیدابراهیمی رڼااوانځور نه وو نوبیادڅه شئ وو آیامعاذالله دزید او ورقه فطرت دابراهیم علیه السلام ترفطرت ډیر روغ اوسالم وو؟

قاضی عیاض قدس الله سره په شفاء کې فرمایي:

اعلم منحنا الله تعالی وایاک بطریق التوحید والعلم بالله وصفاته والایمان به وبما اوحی الیه فعلی غایة المعرفة ووضوح العلم والیقین والانتفاء عن الجهل بشئ من ذلک او الشک اوالریب فیه والعصمة من کل مایضادالمعرفة بذلک والیقین هذا ماوقع علیه اجماع المسلمین علیه ولایصح بالبراهین الواضحة ان یکون فی عقود الانبیاء سواه (شفاء قاضی عیاض جلد ۲ صفحه ۸۸)

ژباړه: پوه سه اې دوسته ښه پوه سه الله تعالی دې مااوتاته دخپل توفیق نعمت رانصیب کي اودکوم شئ چی دالله ﷻ دتوحید اوپیژندی اوایمان اووحی سره تعلق وی هغه انبیاء علیهم السلام ته ډیره ښه معلوم اوروښانه وو، انبیاء علیهم السلام دالله ﷻ پرذات اوصفاتو علم یقینی دی معاذالله له دې څخه ناخبره نه دی اونه دوئ ته په دې هکله څه شک اوشبه وه اودهرهغه شئ څخه معصوم اوپاک دی کوم چی دهغوئ دمعرفت اوپیژندی ضد دی په دې باندی دټولو مسلمانانو اجماع ده اوپه یقینی دلائلوسره داثابته سوی چی دټولو انبیاء علیهم السلام په عقائدوکې هیڅ قسم غلطی نه شی کیدای،

خلاصه: ددې ټولو خبرودادی چی دانبیاء علیهم السلام پاک نفسونه له پیل څخه دکفر اوشرک اهررنګه بی حیایي اوناروااکاروڅخه پاک اومنزه دی له پیل څخه دوئ موحدین اومرشدین دی، په فطری ډول له هررنګه بیکاره خبری څخه بیزاره اولیری دی لکه چی

سیف لودین کتابتون

شداد بن اوس ﷺ روایت کوی : چی رسول الله ﷺ وفرمایل :

فلما نشأت بغضت الی الاوثان وبغض الی الشعر (۱)

کله چی زمانشوونماپیل وه له هغه وخته دبتانو دښمنی اوله شعرڅخه ډیر نفرت زماپه زړه کې ولویدی .

دنبی ﷺ دپاره داضروری ده چی هغه په هرڅه کې رښتینی وی دهغه په ویناکې اودهغه په فعل کې دهغه په نیت کې دهغه په عزام اواراده کې هیڅ وخت هم ددرواغواوشک شبه نوم اونښان هم نه وی .ځکه مناسب همدادی چی نبی ﷺ بایدشاعرنه وی ځکه دشاعرله درواغواوشکمنوشیانوڅخه پاکیدل ډیروخت اوعادتاً امکان نه لری په دې وجه الله پاک وفرمایل : (وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنبَغِي لَهُ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْآنٌ مُّبِينٌ (٦٩) سورة یسین)

موږدته دشعرعلم نه دی ورکړی اوشعرده دپاره مناسب هم نه دی .

لکه څنګه چی دنبوت اورسالت مرتبه درسول الله ﷺ دپاره مقرره سوی وه په دې وجه الله ﷻ له پیل څخه دده مبارک پاک زړه له هغه ټولوشیانوڅخه متنفراوبیزاره وګرزوی کوم چی له نبوت اورسالت سره ضد اوپه ټکرکې وو ، دغه رنګه الله ﷻ هغه ځوان کی کله چی دنبوت وخت رانژدی سو نودنبی کریم ﷺ رښتینی خوبونه پیل سو (۱) ، نبی دنبأ څخه جوړدی په عربی لغت کې نباء هغه خبرته وایې چی دهغه ډیرغم خوړل سوی وی اوخامخا صحی اوله واقع سره برابروی ، هرخبرته نباء نه ویل کیږی ، نبی ته ځکه نبی وایې چی دده په ذریعه دوحی انباء الغیب یعنی په غیبی شیانوباندی خبر هغه چی ډیر بی پایه مهم اوبالکل صحی اوله حالاتوسره برابرهم وی اوهیڅ کله غلط کیدای نه سی نبی ته دوحی له لاری دداسی خبروخبر ورکول کیږی .

امام ربانی شیخ مجدد الف ثانی قدس الله سره په خپل یومکتوب کې مختصراً دنبوت حقیقت داسی بیان وی

وچنانچه طور عقل ورائی طور حس است که آنچه بحس مدرک نشود عقل ادراک آن می نماید همچنین طور نبوت ورائی طور عقل ست انچه مدرک نشود بتوسل نبوت بدرک می درآید،،

ژباړه : لکه څنګه چی دعقل دپوهیدلو طریقه له حواس څخه بیله ده کوم شئ چی په ښکاره حواسونه معلومیږی نوهغه بیاعقل ته معلومیږی دغه رنګه دنبوت ډول دعقل څخه بیل دی اودکوموشیانوله پوهی چی عقل عاجزه سی هغه شیان بیادنبوت له لاری

(۱)کنزالعمال جلد ۶ صفحه ۳۰۵ بحواله ابی یعلی وابی نعیم)

(۲) دانبیاء علیهم السلام خوب همیشه رښتیا وی هیڅ کله دروغ نه وی البته ددنیاپه اړه کله رښتیاوی کله نه مګر دآخرت په اړه همیشه رښتیاوی لکه مصیبت دمؤمن په حق کې ددنیاپه اعتبارسره بد اودآخرت په اړه سره ډیرښه اوغوره دی کتاب التعبیر فتح الباری جلد ۱۲ صفحه ۳۱۱)

سیف لودین کتابتون

معلومیدای سی.حواس لکه سترګی فقط دلیدل سویوشیانواوعقل فقط دذهنی شیانو علم حاصلیدای سی مګر غیبی کارونه چی دحواسواوعقل له پوهی څخه جلااوډیر لوړدی نه هلته حس رسیدای سی اونه عقل هغه غیبی کارونه یواځی دنبوت له لاری او وحی له لاری معلومیدای سی ، دغیبی کارو معلومیدل اووسیله یواځی دنبی وحی دی دنبوت دوحی حقیقت یواځی انبیاء پیژندلای سی ، مګر الله تعالی په خپله ډیره مهربانی سره زموږناپوهانودپوهی لپاره لپاره دنبوت دوحی یوه نمونه ښودلی چی دهغې په لیدلو سره څه دنبوت حقیقت فهمیدای سی ، دنبوت دوحی هغه نمونه رښتینی خوبونه دی چی هغه له حواسواوعقل څخه پرته دغیبی کارو دښکاره کیدو یوه کوچنۍ درجه دی کله چی انسان ویده سی اودهغه دپوهی ټولی ښکاره اوپټی قواوی بیخی بیکاره سی هغه وخت ده ته دالله ﷻ له خوا ډیر کارونه روښانه کیږی ، دتفصیل دپاره دامام غزالی رحمة الله علیه رساله المنقذ من الضلال مطالعه کړی .

خلاصه دخبری دادی لکه څنګه چی دغیبی کارودښکاره کیدو اعلی ترینه اولوړه لاره دنبوت وحی دی دغه رنګه دغیبی کارو دښکاره کیدوهغه ټیټه درجه رښتینی خوبونه دی اورښتینی خوبونه دنبوت دوحی یوه نمونه دی چی په هغو سره دانبیاء علیهم السلام دنبوت پیل کیږی ،

لکه چی په دلائل ابی نعیم کې په حسن اسنادسره دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه له شاګرد علقمه بن قیس رضی الله عنه څخه مرسلا روایت سوی دی :

چی لومړی انبیاء علیهم السلام ته خوبونه ورښودل کیږی ترڅو چی په رښتیاخوبوسره ددوئ زړونه ډاډه سی نوبیادویښتیاپه حالت کې پردوئ باندی دالله ﷻ له خوا وحی نازلیږی (۱) ،لکه یوسف علیه السلام ته چی ترنبوت مخکې یوعجیب خوب وښودل سو په دې وجه چی رښتینی خوبونه دنبوت یوه برخه دی په حدیث کې راغلی دی چی رښتینی اوښه خوبونه دنبوت یوجزء دی .

دانبیاء علیهم السلام خوب خوهمیشه رښتیاوی دانبیاء علیهم السلام په خوب کې ددرواغوامکان هم نه وی خودښوخلکوپه خوب کې رښتینوالی غالب وی شاذ اونادر دهغوئ خوب داضغاث احلام څخه وی اودبدو خلکو خوب ډیروخت اضغاث احلام وی په صحیح مسلم کې له ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل :

اصدقهم رؤیا اصدقهم حدیثا ژباړه :کوم څوک چی په خبروکې ترټولورښتینی وی هغه به په خوب کې هم ترټولوډیررښتینی وی ..

(۱) فتح الباری جلد ۱ صفحه ۷)

سيف لودين كتابتون

له دې حديث شريف څخه په ښکاره معلوميږي چې دخوب په رښتيا کيدو کې دويښتيا په حالت کې درښتيا ويلو ډير دخل سته او کوم سړی چې څومره رښتيا وايي هغومره دنبوت مرتبې نژدی دی او څومره چې دورغ وايي هغومره ځنې ليری دی ځکه نبی کريم ﷺ يووخت داسې وفرمايل چې رښتيا خوبونه دنبوت شپږويشتم جزء دی او بل وخت يې داسې وفرمايل چې څلويښتم جزء دی او په بل حديث کې راځی چې پنځه څلويښتم جزء دی ، په يو بل حديث کې راځی چې پنځوسم جزء دی او په يو بل حديث کې راځي اويايم جزء دی ، او په يو بل حديث کې راځی چې شپږ اويايم جزء دی .

امام غزالی قدس الله سره په احياء العلوم کتاب الفقر والزهد کې فرمايي : چې هيڅکله دامختلف قولونه داسې ونه ګڼئ چې په خپل مينځ کې سره ضد دی بلکې په دې مخلتفو قولو سره دمرتبو واختلاف ته اشاره ده ځکه خوب ليدونکي دمختلفو مرتبو والاوی ، دربنتينو خلکو دخوب له نبوت سره هغه نسبت دی کوم چې يو يې له شپږويشتو سره لری ، اودنور دخوب بيا له نبوت سره هغه نسبت دی کوم چې ديوه نسبت له څلويښتو يا پنځوس يا اويا يا شپږ اويا وو سره دی (۱)

اودابوهريره رضی الله عنه دحديث اصدقهم رؤيا اصدقهم حديثا هغه چې موږ اوس درته بيان کي هغه هم واختلاف دمرتبو ته اشاره کوی ځکه د اسم تفضيل استعمال په هغه ځای کې مناسب دی چيری چې مرتبې اودرجې مختلفې اوبيلابيلې اويوه پر بله لوړه وی)

حافظ ابن قيم فرمايي : چې دامام احمد بن حنبل رحمة الله عليه څخه روايت سوی دی چې په دې اړه چې رښتيا خوبونه دنبوت يو جزء دی چې څومره روايتونه روايت سوی دی هغه ټول په اختلاف دمرتبو حمل کيږي (۲) او پاته سوه داپوښتنه چې رښتيا خوبونه دنبوت دجزء کيدو څه معنی دی ؟ ددې جواب دې علماء په فتح الباري کې وګوری (۳)

او له دې وروسته خپل طالبان اوستاسو لاس نيونکی پوه کی الله جل جلاله دې تاسو ته ددې کار غوره بدله درکړي ، ددلالت علی الخير دبدلې دا ناکاره بنده هم له خپل پروردګار څخه اميدلری داوړدوالی له ويری اوس پر کوتاهی مجبور سوم . لَعَلَّ اللهُ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا)

اوس خپل اصلی مقصود ته راځم ، په بخاری او مسلم کې له ام المؤمنين عائشه صديقه رضي الله عنها څخه روايت سوی دی : أَنَّهَا قَالَتْ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فِي النَّوْمِ فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ (صحيح البخاری رقم الحديث ۳

ژباړه : په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندی دوحی پيل لومړی په رښتينی اوښو خوبو وسول کوم خوب چې به يې وليدی نو هغه به دسهار دسترګی په څير روښانه وو .

---

(۱) فتح الباري جلد ۱۲ صفحه ۳۱۹ ـ ۳۲۴) (۲) مدارج السالکين جلد ۱ صفحه ۲۸) (۳) فتح الباری جلد ۱۲ صفحه (۳۳۱ـ۳۳۳)

سیف لودین کتابتون

ابی حمزه ﷺ فرمايي چې دښو خوبو دسهار له سترګی سره ځکه تشبيه وسوه چې تراوسه دنبوت لمرلانه وو راختلی لکه څنګه چې دسپیدو رڼا دلمر دراختلو مقدمه وی دغه رنګه ښه خوبونه دنبوت اورسالت دلمر راختلو مقدمه دی .

رښتیاخوبونه دسپیدو دخبر ورکولوپه معنی ووچی نژدی دنبوت لمرراختونکی دی اوڅنګه چې دسهار رڼا لږلږ زیاتیږی دغه رنګه دربتیاخوبو اوربتیارڼا هم لږلږ زیاتید له ترڅوچې دنبوت اورسالت لمر دفاران له څوکوراپورته سوهغه څوک چې دزړه اوسر سترګی درلودی لکه ابوبکر صدیق ﷺ هغه راغله اودنبوت دلمر له انوارو او رڼا څخه یې ګټه واخیسته اوڅوک چې په زړه اوسترګوړوندوواودپیری زړه یې وو لکه ابوجهل دلمرپه راختلوسره یې دپیری په څیر سترګی ړندی سوی اودنبوت اورسالت له لمرڅخه بی برخې پاته سو .

گرنه بیند بروز شپره چشم........ چشمه آفتاب راچه گناه......... چهره آفتاب خود فاش است.........بی نصیبی نصیب خفاش است

نورخلک دابوبکر صدیق ﷺ اوابوجهل ترمینځ ووهرچادخپلوسترګو اوزړه درڼا په اندازه دنبوت له لمره ګټه واخیسته (فتح الباری جلد ۱ /ص / ۱۱۰)

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ أَنَّهَا قَالَتْ ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلَاءُ وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ)

وروسته رسول الله ﷺ ته خلوت ډیر محبوب سو نوپه غار حراء کې یواځي والی غوره کړ ام المؤمنین عائشه صدیقه ﷞ حُبِّبَ دمجهول صیغه په دې وجه وویله چې دامعلومه نه دی چې رسول الله ﷺ خلوت اویواځی والی ولی خوښ کې هغه یوپټ شئ وو اوکه غیبی شئ وو چې رسول الله ﷺ یې په خلوت اویواځي والی باندی مجبور کی ، الله ﷻ په خبردی چې هغه څه سبب اوعلت وونورڅوک نه دی په خبرځکه ام المؤمنین ﷞ دمجهول صیغه وویله ، الله ﷻ چې کله دچاپاره دخاص رحمت اراده وکوی نو دهغه په زړه کې دیواځی والی اوجلاوالی باعث پیداکی لکه چې الله تعالی داصحاب کهف په قصه کې فرمايي :(وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ فَأْوُوا إِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِنْ أَمْرِكُمْ مِرْفَقًا (۱۶) سورة کهف) ژباړه :اوکله چې تاسوددې کافرانو څخه اوددوئ دټولو معبودانو څخه پرته له الله ﷻ څخه ګوښه سواست نوپه یوغارکې اوسیږئ ددې دپاره چې په اطمینان سره دالله ﷻ عبادت وکوی الله ﷻ به پرتاسوباندی خپل رحمتونه نازل کړی اوپه هرکارکې به ستاسولپاره آسانی پیداکړی .

اودالازمی نه دی چې په یواځي والی اوجلاوالی سره چاته نبوت اورسالت ورکول کیږی ځکه نبوت اورسالت کسبی شئ نه دی ، الله ﷻ چې څوک وغواړی نوهغه نبی اورسول جوړوی ، والله اعلم حیث یجعل رسالته

سیف لودین کتابتون

هوداخبره سته چې الله ﷻ چې يوڅوک نبي اورسول جوړوي نوخلوت اويوائي والي دهغه په حق کې دنبوت اورسالت مقدمه وي لکه رښتيني خوبونه فقط دهغو حضراتو دپاره دنبوت اورسالت مقدمه وي چې ودوئ ته دنبوت منصب ورکول کيږي په علم الهي کې دهغه دپاره داليکل سوي وي دامطلب يې نه دی چې چاښه خوبونه اورښتياخوبونه ليدل هغه به نبي کيږي.. الله تعالى فرمايلي دی :

فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا (۴۹)سورة مريم)

ژباړه : هرکله چې ابراهيم ؑ دکافرانو څخه اودهغوئ دټولو معبودانوپرته دالله ﷻ څخه بيل سونومونږ ابراهيم ؑ ته اسحق ؑ زوی اويعقوب ؑ لمسئ ورکی اوهريومونبي جوړکی له دې آيت څخه دامعلوميږي چې دالله ﷻ له خوا څخه حضرت اسحق اويعقوب ؑ دنبوت په مرتبه باندې نازول دخلوت ابراهيمي له برکاتو څخه وو

نوهم دغه رنګه به نبي کريم ﷺ هم غار حراء ته تلی اواعتکاف به يې کوی اودخوراک اوڅيښاک توکی به يې له ځان سره وړل اوهلته به اوسيدی دالله ﷻ عبادت اوبندګي به يې کوله په هيڅ حديث کې دهغه دعبادت کيفيت نه دی يادسوی يوشمير علماء وايې چې دالله ﷻ ذکر اومراقبه اوفکر اوذکردده مبارک عبادت وو ، اوله دې عبادته پرته له کافرانواوفاسقانوجلااوسيدل هم عبادت دی .

[اوهجرت چې دهغه په صفت اوستايلوټول قرآن ډک دی هغه دڅه شئ نوم دی دالله ﷻ اودرسول ﷺ له دښمنانو څخه دجلاوالی اوبيلوالی نوم هجرت دی)] (۱)

اوکله چې به يې توښه ختمه سوه نوکورته به بيرته راغلی اوتوښه به يې له ځان سره يووړه اوپه عبادت به بوخت وو (زرقاني جلد۱ صفحه ۱۱) والمختار عندنا انه کان يعمل بماظهر له من الکشف الصادق من شريعة ابراهيم ؑ وغيره کمافي الدر المختار صفحه جلد۱ صفحه ۱۶۳)

ژباړه : يعني دحنفي فقهاؤ په نزد مختارقول دادی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته به چې په کشف صادق اوالهام سره څه ښکاره سو چې داکاردابراهيم ؑ يادبل کوم نبي دشريعت څخه دی دهغه مطابق عمل به يې کوی لکه چې په بعض رواياتوکې دفيتحنث پرځای فيتحنّفُ لفظ راغلی دی چې دهغه معنی دادی، چې دابراهيم حنيف پرطريقه به تلی دالفظ ددې تائيدکوی چې رسول الله ﷺ به دملت حنيفيه مطابق په خپل کشف اوالهام سره مطابق عمل کوی ..

(۱) دقوسو په مينځ کې چې کوم عبارت دی هغه مؤلف له طرف څخه دی په دې وجه دادعلامه زرقاني دکلام څخه بيل کړل سوپه کوم دليل سره چې الله ﷻ ته دمخلصين بندګانوليدل سبب دخير اوبرکت دی په هم هغه دليل سره دالله ﷻ ددښمنانو ليدل دسليم طبعيت دپاره دکدورت سبب اوباعث دتاريکی دی آيادهارون اوموسی بن عمران ؑ اوفرعون اوهامان عدوالله اوابوجهل عدوالله اوابوبکرصديق ؓ اومسيليمه کذاب ليدل برابردی حاشاثم حاشا ولاينکرذلک الامن سفه نفسه والعاقل تکفيه الاشارة)

سیف لودین کتابتون

درسالت لمر دفاران له لوړو څوکوراپورته سو !

کله چې دنبي کريم ﷺ عمر شريف څلويښت کالوته ورسيدی (۱) نو دخپل عادت مطابق رسول الله صلی الله عليه وسلم يوه ورځ په غارحراء کې تشريف درلودی چې ناڅاپه يوه ملائکه غارته راننوته اوهغه ته يې سلام وکی ، وروسته يې وويل (اقرأ) ولوله ، نبي کريم ﷺ وفرمايل (ماانابقارئ) زه لوستونکی نه يم ، په دې باندی زه ملائکې په داسې سختې سره زورکړم چې زمادتکليف هيڅ پای نه وو او وروسته يې پريښودم اووې ويل (اقرأ) مابياهغه جواب ورکړی چې (ماانابقارئ) زه لوستونکی نه يم)

مسئله : دماانابقارئ ښکاره معنی خودادی چې زه لوستونکي نه يم (اُمّي) يم مګر په دې معنی کې داسوال پيداکيږي ، چې قرائت يعنی په ژبه لوستل دامّيت ضد نه دی ځکه اُمي سړی هم دچاپه زده کړه اوتلقين سره څه ويلای سي اوپه هغه تلفّظ کولای سي خصوصاً بياهغه څوک چې په فصاحت اوبلاغت کې مثال نه لري اميت خودليکلوضددی نه ده ويلو ؟ اُمی سړی ليکل سوی خط نه سي ويلای مګر په ژبه زده کړه کولای سي الفاظ ويلای سي نوکه جبرئيل آمين يوليکل سوی خط راوړی وی چې په هغه کې دا آيتونه ليکل سوی وی اوپه هغه وجه يې ورته ويلی وی چې (اقرأ) يعنی داخط ووايه نوبيادهغه په جواب کې د(ماانابقارئ) ويل ښه اومناسب دی لکه چې په يوشميررواياتوکې همداسی راغلی دی (۲) چې جبرئيل آمين يوه ليکلی پاڼه راوړه چې په جواهروسره ليکل سوی وه اوهغه پاڼه يې درسول الله ﷺ په لاس کې ورکړه ورته وې ويل (اقرأ) يعنی دا ليکل سوی پاڼه ووايه نبي کريم ﷺ وفرمايل (ماانابقارئ) يعنی زه اُمی يم ليکل سوی ليک نه سم لوستلای .

يوشمرمفسرين وايي : چې په آلم : ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ) کې وهغې پاڼې ته اشاره دی کومه چې جبرئيل عليه السلام راوړی وه اوکه جبرئيل عليه السلام څه ليکلی خط نه وی راوړی اوپه اقرأ سره کوم ليکلی سوی خط لوستل مراد نه وی بلکې يواځې په ژبه سره ويل اوتلفظ مراد وی نوپه دې صورت کې د(ماانابقارئ) دامعنی نه دی چې زه اُمی يم لوستونکی نه يم بلکې دامعنی مراد دی چې دوحی دهيبت اوويری په وجه زه څه نه سم ويلای ځکه د

(۱) دڅلويښت کالوپه عمر کې نبي کيدل دابن عباس اوانس بن مالک رضي الله عنه څخه په صحيح بخاری کې روايت سوی دی اودغه رنګه جبير بن مطعم رضي الله عنه اوابوسعيد رضي الله عنه څخه هم روايت سوی دی)

(۲) داحديث شريف اما م بخاری په بدء الوحی اوکتاب التعبير اوکتاب التفسير کې ذکر کړی دی مګر حتی بلغ منی الجهد لفظ په بدء الوحی کې يواځي اول ځل اودويم ځل ذکر کړی دی مګر په کتاب التفسير اوکتاب التعبير کې دريم ځل هم ذکر کړی دی (منه عفاعنه)

سیف لودین کتابتون

فرشتي په ليدلو او دانوارو په ليدلو پرزړه باندې دومره هيبت اوويره ولويده چې په ژبه هيڅ نه سم ويلای زه يې څنګه ووايم لکه چې په بعض رواياتو کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل (کيف اقرأ) پردې بناء باندې موږ د (ما انا بقارئ) داترجمه کوو چې زه څه لوستلای نه سم دويري او هيبت له وجې اودا معنی هم مناسب دی اوپه مخکې معنی هم صحی کيدای سی . هذا توضيح ما افاده الشيخ عبدالحق المحدث الدهلوی فی اشعة اللمعات ، مدارج النبوة (۱) کذافی تيسر القاری شرح بخاری بزبان فارسی نورالحق دهلوی (۲) جلد ۱ صفحه ، وشرح فارسی شيخ الاسلام دهلوی)

فرشتي بيا دويم ځل ټينګ کړم اوپه سختی يې زور راکړ اوپری يې ښودم اوراته وې ويل چې { اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (۱) خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ (۲) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (۳) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (۴) عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (۵) } سورة علق) (۳)

ژباړه : ووايه د خپل رب ﷻ د نوم په برکت سره ووايه هغه چې پيدا کونکي دی د ټولو کائناتو خصوصاً بيا دانسا ن اوانسان يې دوينی له يوی ټوټی څخه پيدا کړی دی ووايه او ستا رب ﷻ ډير عزت مندی دی چې په قلم سره يې علم وښودی اوانسان ته يې هغه شيان وښودل چې دته نه وو معلوم .

له دې وروسته رسول الله ﷺ کورته راغلی ، اوبدن مبارک يې ريږديدی وخديجة الکبری رضی الله عنها ته يې وويل (زَمِّلُونِي . زَمِّلُونِي) ماپټ کړه ، ماپټ کړه ،

لږ وخت وروسته ويره اوپريشانی ليری سوه ټوله قصه يې خديجة رضی الله عنها ته بيان کړه رسول الله ﷺ وويل زه ويريدم چې زماروح ونه وزی ځکه دوحی اود فرشتو دانوارو رڼا د رسول الله ﷺ پر بشريت باند ی ناڅاپه نزول وکړ په دې وجه دوحی په لوی والی او عظمت سره رسول الله ﷺ ته دا فکر پيدا سو چې که دوحی داسی سختی هميشه وی نو کيدای سی چې زما بشريت دوحی درندوالی ونه زغمی او دنبوت په بار مغلوب اوفنا سی .

لکه چې په دې آيت شريف کې ودې درندوالی ته اشاره سوی دی الله ﷻ فرمايې :

إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا (۵) سورة مزمل)

اې محمد ﷺ موږ پرتا باندی يو دروند اوګران کلام نازلوو)

دسپريدو په حالت کې چې به کله وحی نازليده نو دنبی کريم ﷺ اوښه به دوحی په وجه

---

(۱) زرقانی شرح مواهب جلد ۱ صفحه ۲۱۸ کې راغلی دی : قدروی ابن اسحق فی مرسل عبيد بن عمير رضی الله عنه جاء جبرئيل بنمط من ديباج فی کتاب)

(۲) دا قول دبعض مفسرينو په اشعة اللمعات کې نسته بلکې په روض الانف شرح سيرة ابن هشام کې ذکر سوی دی لومړی په جلد ۴ صفحه ۵۲۲ او جلد ۱ صفحه ۱۴۳ و جلد ۱ صفحه ۳۳)

(۳) ترمالم يعلم پوری لوستل په کتاب التفسير اوکتاب التعبير کې ذکر سوی دی دبدء الوحی په روايت کې ترو ربک الاکرم پوری لوستل ذکر سوی دی ،، (منه عفاعنه)

سیف لودین کتابتون

کینسته ، زید بن ثابت رضی الله عنه فرمایي چي یوه ورځ زه د رسول الله ﷺ سره نژدی ناست وم د رسو ل الله ﷺ ورو ن مبارک زما پر ورانه باندی وو په دغه وخت کي وحی نازله سوه دده مبارک ورون دومره راباندی دروندسو چی دخپل ورانه پرزره کیدو باندی وویریدم یو معلوم شئ چی دطبیعت خلاف پیښ سی نو انسان په هغه اندیښمن کیږی او په داسی پیښه سره دانسان ویره هیڅ لیری کار نه دی ، موسی علیه السلام ته چی کله دالله جل جلاله له لوری دلکړی معجزه ورکړل سوه نو حکم ورته وسو چی اې موسی علیه السلام خپل لکړه پر ځمکه وغورزوه کله چی یې وغورزوله نو مارځنی جوړسو موسی علیه السلام له ډیری ویری منډه کړه او شاته یې هم و نه کتل په دغه وخت کي آواز ورته وسو (أَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ إِنَّكَ مِنَ الْآمِنِينَ (۳۱) سورة القصص)

اې موسی علیه السلام بیرته راسه او مه ویریږه ته بیخی په امن یې .

دموسی علیه السلام داویریدل او منډه وهل دانسان دطبیعت غوښتنه وه (خلق الانسان ضعیفا) دځه شک او تردد په وجه نه وو

دغه رنګه دنبی کریم ﷺ ویره او خفګان هم یوائې پردې بنیاد باندی وو ځکه ناڅاپه دنبوت او وحی ګران بار پرولویدی ، دځه شک او شبه پر بنیاد باندی نه وه، بنه ځان پوه کړه او په شک او تردد کي مه لویږه پر انسان باندی ناڅاپه دفرشتی په نزول سره د رسول الله ﷺ ویره هیڅ لیری او دعقل څخه وتلی کار نه دی ورو ورو چی کله دفرشتو په راتګ سره دهغه مبارک بشریت له فرشتو سره بلد او محبوب سو نو ویره هم له منځه ولاړه او له ډیری ناڅاپي هغه مبارک وویریدی چی هسی نه چی زما روح ولاړسی

معاذالله په نبوت او رسالت کي دده مبارک ﷺ هیڅ شک او تردد نه وو ، ځکه دجبرئیل علیه السلام په راښکته کیدو او دانوارو او تجلیاتو له لیدلو وروسته په نبوت کي شک او تردد محال کاردی .

لکه چی دابن شهاب زهری رحمه الله په یو مرسل روایت کي راغلی دی : چی جبرئیل علیه السلام راغلی او زماسینه یې څیری کړه او پرډیر ه ښه بستره یې کښینولم چی هغه په یاقوت او ملغلرو جوړه سوی وه :ثم استعلن له جبرئیل فبشره برسالة حتی اطمأن النبی ﷺ ثم قال له اقرأ فقال کیف اقرأ فقال اقرأ بأسم ربک الذی خلق الی قوله مالم یعلم فقبل الرسول رسالة ربه وانصرف فجعل لایمر علی شجر الاسلم علیه ولاحجر الاسلم علیه فرجع مسرورا الی اهله موقنا قدرأی امرا عظیما (الحدیث)

بیا جبرئیل علیه السلام رانبکاره سو دالله جل جلاله له لوری یې هغه ته دنبوت او رسالت دمرتبی زیری ورکړ ترڅو چی هغه ډاډه سو بیایې وویل چی ووایه رسول ﷺ وفرمایل څنګه ووایم جبرئیل علیه السلام وویل اقرأ باسم ربک الذی خلق تر علم مالم یعلم پوری هغه دالله جل جلاله پیغام قبول کی ، او بیرته ولاړی په لاره کي چی به پر کوم ونه کاڼی تیریدی نو هغوئ به ده ته السلام علیکم یارسول الله ﷺ ویل په دغه حالت کي په ډیره خوشحالي خپل کورته ولاړی

سیف لودین کتابتون

او دده دا یقین وو چې الله تعالی ډیر لوی نعمت ورکړ چې نبوت اورسالت دی .دا روایت په دلائل بیهقی او دلائل ابی نعیم کې د موسی بن عقبه له لاری روایت سوی دی (۱)

او دا روایت په عیون الاثر کې د حافظ ابو البشر دولابی په سند سره ذکر سوی دی ، حافظ عسقلانی فرمایې چې د عبید بن عمر رضی الله عنه په مرسل روایت کې راغلی دی چې جبرئیل علیه السلام راغلی او زه یې په یوه بستره کښینولم چې هغه په ملغلرو پوښل سوی وله.. او د زهری په یو مرسل روایت کې راغلی دی : چې زه یې پرداسی قیمتی بستره باندی کښینولم چې دهغې په لیدلو سره تعجب کیدی (۲)

رسول الله ﷺ چې کله کورته راغلی او خدیجة الکبر ی رضی الله عنها ته یې ټوله قصه بیان کړه ، اووې فرمایل چې زه پرخپل ځان ویریږم نو خدیجه رضی الله عنها ورته وویل : ته دې خوشاله یې ته هیڅ وخت هم مه ویریږه ، قسم په الله عزوجل الله به تا هیڅ کله نه رسوا کوی ، ته صله رحمی کوی ، ستا صله رحمی ییخی رښتینی ده ، او ته همیشه رښتیا وایې د خلکو تلکیف پورته کوی یعنی د نورو قرضونه آدا کوی، او د غریبانو په حال ځان خبروی، او ته امین یې د خلکو امانتونه خوندی کوی ،او ته د میلمنو د میلمستیا حق اداء کوی ، په حق کاروکې تل ته آمین او مرسته کونکي یې ، دا د بخاری او مسلم روایت دی د ابن جریر په یو روایت کې دی : چې خدیجه رضی الله عنها دا هم وفرمایل (ما اتیت فاحشة قط) ته هیڅ کله د بې حیایې خواته نه یې ورغلی . (۳)

خلاصه: څوک چې دداسی ښو اخلاقو او ښو کمالاتو او دداسی ښو صفتو او پاکو ستاینو او دداسی اخلاقو او خوی اِو دداسی غوره معناګانو غوره زیرمه او کان وی دهغه رسوا یې امکان نه لری،هغه نه په دنیاکې رسوا کیږی نه په آخرت کې الله تعالی چې چاته په خپل رحمت غوره صفات او کمالات ورکوی هغه د هر مصیبت او آفت څخه هم خوندی ساتی .

د ابن اسحق په روایت کې راغلی دی : چې خدیجة الکبری رضی الله عنها رسول الله ﷺ ته تسلی ورکړه ،داسی یې وویل قسم په هغه پاک ذات چې دهغه په لاس کې د خدیجة روح دی زه ټینګ امیدلرم چې ته به ددې اُمت نبی ﷺ یې (۴)

او په یوه بل روایت کې راځی :

واخبرها بماجاء به فقالت ابشر فوالله لایفعل الله بک الاخیرا فاقبل الذی جاءک من الله فانه حق وابشر فانک رسول الله ﷺ حقاً رواه البیهقی فی الدلائل من طریق ابی میسرة مرسلا (۵)

(۱) الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۹۳)
(۲) فتح الباری جلد ۱۲ صفحه ۳۱۳)
(۳) تاریخ طبری جلد ۲ صفحه ۸۱)
(۴) سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۸۱)
(۵) فتح الباری جلد ۱۲ صفحه ۳۱۵)

سيف لودين كتابتون

ژباړه : رسول الله ﷺ ټوله قصه خديجة الكبرى رضي الله عنها ته بيان كړه ، خديجة رضي الله عنها وويل مبارك دې وى اوته دې خوشاله يې قسم په الله جل جلاله الله جل جلاله به له تاسره پرته له نيكۍ بل هيڅ نه كوي كومه مرتبه چې تاته دالله جل جلاله له طرفه دركول سوه هغه ومنه هغه رښتيا هم حق دى اوبيادا وايم چې ته دې خوشحاله يې ته رښتيا دالله جل جلاله رښتينى رسول ﷺ يې .

حافظ عسقلانى دارروايت نقل كوى اوفرمايي : چې دارروايت ښكاره پردې دلالت كوى چې ترټولو خلكو مخكې خديجة الكبرى رضي الله عنها ايمان راوړى دى وروسته خديجه رضي الله عنها يوائحى دخپل آكازوى ورقه بن نوفل ته ورغله هغه دتورات اوانجيل لوى عالم وو ، اودسريانى ژبې څخه به يې عربى ژبې ته دانجيل ترجمه كوله ، اودجاهليت په وخت كې له بُت پرستى بيزاره وواونصرانى سوى وو اوپه دغه وخت كې ډير سپين ږيرى اوپه ستركو ړوندوو هغه ته يې ټوله پيښه بيان كړه ، ورقه چې قصه واوريدله وې ويل :

لئن كنت صدقتنى انه ليأتيه ناموس عيسى (۲) ژباړه : كه ته رښتيا وايې نورښتيا هم محمد ﷺ ته هغه فرشته راغلې ده كومه چې به عيسى عليه السلام ته راتله .دارروايت په دلائل ابى نعيم كې په پوره سند ذكر سوى دى ، وروسته خديجه رضي الله عنها نبى كريم ﷺ له ځا ن سره ملګرى كى اوورقه بن نوفل ته دواړه ورغله خديجه رضي الله عنها ويل اې زمادآكازويه ته دخپل وراره خبره واوره (يعنى دده له ژبې) (۴)واوره ورقه نبى كريم ﷺ ته وويل اې وراره څه دى ليدلى دى ؟ نبى كريم ﷺ ټوله پيښه ورته بيان كړه .فلماسمع كلامه(۳) ايقن بالحق واعترف به : فتح البارى جلد۱۲ صفحه ۳۱۷) ژباړه : ورقه چې كله درسول الله ﷺ خبرى واوريدى نوپه اوريدوسره يې دحق يقين راغلى چې څه چې دى وايې هغه بيخى حق دى اوورقه دحق اقراروكي اوحق يې ومني .

---

(۱) دخير خبرراړونكى ته ناموس وايې اودشردخبر راوړونكي ته جاسوس وايې) فتح البارى جلد ۱ صفحه ۲۴)
(۲) ددووقوسوپه مينځ يعنى دده له ژبې ، په دې وجه زيات سوى دى چې دبخارى اودلائل ابى نعيم په روايت كې دتعارض توهم ونه سى
(۳) دسمع اويقين اواعتراف ټول ضمائر ورقه ته راجع دى ، علامه شبلى ټول ضمائرنبى كريم ﷺ ته راجع كړى دى ، داسى ترجمه يې كړى ده ، چې كله نبى كريم ﷺ دورقه خبرى واوريدى نودنبى كريم ﷺ دحق يقين راغلى اونبى كريم ﷺ دحق اقراروكى اووې مني ، سيرة النبى جلد ۱ صفحه ۱۸۹)
،علامه شبلى ډير خطاسو ځكه دعلامه داګمان دى، چې نبى كريم ﷺ په خپل نبوت اورسالت كې شكمن وو دورقه په ويناسره هغه ته دخپل نبوت يقين حاصل سو ، دعلامه شبلى خيال بيخى بى بنسټه اوغلط دى نبى ﷺ ته دخپل نبوت اورسالت په لومړى سركې لا علم اويقين حاصل وو ، كله چې جبرئيل عليه السلام غارحراء ته داخل سو نولومړي يې نبى كريم ﷺ ته سلام واچوى ، لكه چې دابوداؤد طيالسى په روايت كې دى ، زرقانى جلد ۱ صفحه ۲۱۱ فتح البارى جلد۱۲ صفحه ۳۱۳ كتاب التعبير اوبيا يې نبى كريم ﷺ ته دالله جل جلاله له لورى درسالت زيرئ وركي كله چې هغه ښه مطمئن سو بيايې ورته وويل (اقرأ) دسورة علق څوآيتونه يې نبى كريم ﷺ ته ولوستل وروسته چې كله له غار حراء څخه راووتى نودهرى درختى اوډبرى څخه يې دالسلام عليك يارسول الله ﷺ ږغ اوريدى ، خصائص كبرى جلد۱ صفحه ۹۳ _ ۹۴) لنډه داچې په دې ټولو كاروسره نبى كريم ﷺ ته دخپل نبوت پوره يقين حاصل وو ، ورقه ته دخبر له اوريدووروسته دامعلومه سوه چې داهغه نبى دى كوم چې په تورات اوانجيل كې زيرى وركړل سوى دى ورقه دهغه دنبوت اورسالت تصديق وكى ، علامه ډيره لويه غلطى كړى دى چې دسمع اوديقين اواعتراف ضمائريې دورقه پرځاى ونبى كريم ﷺ ته راجع كړى دى اوپه ډيره لويه غلطى كې مبتلاسوى دى

سیف لودین کتابتون

ورقه چې دنبی کریم ﷺ تولی خبری واوریدی ، نوويې ویل چې داهغه ناموس فرشته دی چې موسی علیه السلام ته راتله ،کاشکی زه ستاد پیغمبری په وخت کې ځوان اوقوی وای ، کله چې ستاقوم تاله وطن څخه باسی یاترهغه وخت زه ژوندی پاته وای .

رسول الله ﷺ په ډیر تعجب ورته وویل (١) آیاهغوئ به ماله وطنه باسی ورقه وویل یوائې تانه باسی بلکې هرسړی چې پیغمبر سی اوداالله ﷻ کلام اودهغه پیغام راوړی خلک دهغه دښمنان کیږی که زه هغه وخت ژوندی وم نوزه به په ډیرزورسره ستامرسته کوم مګر دګوتوپه شمیرورځی تیری سوی چې ورقه وفات سو دادبخاری اومسلم روایت دی اودابومیسره په مرسل روایت کې راغلی دی چې ورقه وویل : ابشر فانا اشهدانک الذی بشربه ابن مریم علیه السلام وانک علی مثل ناموس موسی وانک نبی مرسل وانک تؤمر بالجهاد(٢)

ژباړه :ته دې خوشحاله يې زه شاهدی ورکوم چې ته هغه نبی علیه السلام يې چې مسیح بن مریم علیه السلام ستا زیرئ ورکړی دی اوته دموسی علیه السلام په څیرراليږل سوی نبی يې اوژردی چې داالله ﷻ له طرفه به تاته دجهاامر وسی .

لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دموسی علیه السلام په څیر نبی الجهاد دی اوشریعت موسویه په شان دنبی کریم ﷺ شریعت هم پرحدود اوتعزیرات اوجهاد اوقصاص دحلال اوحرام پر احکاموباندی په تمامه معنی مشتمل دی په دې وجه ورقه په هغه وخت کې سره له دې چې دئ نصرانی وو داوویل چې داهغه ناموس (فرشته) دی کومه چې پرموسی علیه السلام باندی نازلیدله او خدیجه رضی الله عنها چې اول ځل ورقه ته دنبی کریم ﷺ حال بیان کی هغه وخت ورقه دنصرانیت په وجه دفرشتی دعیسی علیه السلام تشبیه ورکړه ، اوپه یوروایت کې راغلی دی ،چې دروانیدوپه وخت کې ورقه درسول الله ﷺ سر مبارک ښکل کی ، (٣)

نبی کریم ﷺ کورته بیر ته راغلی او دوحی راتګ دځوورځولپاره بندسو

ددې دپاره چې پرزړه تیره سوی دهشت اوویره لیری سی اودراتلونکی وحی مینه اوانتظاردنبی کریم ﷺ په زړه کې پیداسی (۴)

دوحی په بندیدورسول الله ﷺ دومره غمجن سو چې په وار وار به غره ته وختی ددې لپاره چې ځان له غره راغورزوی

(١) فتح الباری جلد ٨ صفحه ۴۵۴،)
(٢) عیون الاثرجلد ١ /ص /٨۴)
(٣) عیون الاثرجلد ١ /ص /٨۴)
(۴) دوحی دبندیدومطلب دادی چې دقرآن کریم نازلیدل دځوورځودپاره بندسواودامطلب نه دی چې دجبرئیل علیه السلام تګ او راتګ نه وو جبرئیل علیه السلام به تلی راتلی ، عمدة القاری جلد ١ صفحه ٧٣)

سیف لودین کتابتون

مګر نبی کریم ﷺ چې به کله دااراده وکړه نوسمدستی به جبرئیل علیه السلام ورته راښکاره سو اوداسی ورته فرمایل (یامحمد انک رسول الله حقا) اې محمد ﷺ ته رښتیا دالله جل جلاله حق رسول یې ددې خبری په اوریدو به دنبی کریم ﷺ زړه ارام سو (۱)

یوځل خدیجة رضی الله عنها نبی کریم ﷺ ته وویل چې که امکان لری نوڅه وخت چې هغه ناموس تاته راسی نوماخامخا ماخبره کړه ؟ نوکله چې جبرئیل علیه السلام دنبی کریم ﷺ خواته راغلی دوعدی برابر نبی کریم ﷺ خدیجه رضی الله عنها ته خبر ورکی خدیجة رضی الله عنها وړاندیز وکی چې ته زما په غیږ کې راسه کله چې نبی کریم ﷺ په غیږ کې راغلی نوخدیجه رضی الله عنها پوښتنه وکړه چې آیاته اوس هغه وینی . رسول الله ﷺ وویل نه خدیجه رضی الله عنها وفرمایل : ته دې خوشاله یې قسم په الله جل جلاله دافرشته دهی شیطان نه دی ،،داروایت محمدبن اسحق داسماعیل بن حکیم څخه مرسلاً روایت کړی دی (سیرة ابن هشام) (۲)

اوپه بل روایت کې داسی راغلی دی چې خدیجه رضی الله عنها وفرمایل چې ستادې مبارک وی دا فرشته دی شیطان نه دی ځکه که شیطان وای نونه به تلی ځکه هغه نه شرمیږی .. رواه ابونعیم فی الدلائل بسندضعیف عن عائشه صدیقه رضی الله عنها (۳)

خلاصه :دادی چې دخدیجة رضی الله عنها دلیل درسول الله ﷺ پرنبوت اورسالت باندی عقلی وو ، چې دداسی ښوصفاتواو اخلاقو اوکمال غوره چینه اوکان یواځی نبی مبارک کیدای سی،اودورقه دلیل بیانقلی وو چې داهغه نبی اورسول دی چې دهغه زیری میسح بن مریم علیه السلام ورکړی دی ، سلیمان تیمی اوعقبه په خپل کتاب المغازی کې ذکرکړی دی ، چې خدیجة الکبری رضی الله عنها تر ورقه مخکې عداس (۴) ته ورغله اودجبرئیل علیه السلام راتګ یې ورته بیان کی ، عداس دجبرئیل دنامه په اوریدوسره وویل قدوس قدوس یعنی پاک دی هغه ذات پاک دی هغه ذات،دبتانو دعبادت کونکوپه ځمکه کې دجبرئیل علیه السلام راتګ جبرئیل علیه السلام خوادالله جل جلاله امین دی داهغه فرشته دی چې دپیغمبرانو اوالله جل جلاله په مابین کې سفیر دی اودموسی علیه السلام اوعیسی علیه السلام دوست دی ،له عداس څخه وروسته خدیجه رضی الله عنها ورقه ته ورغله

دسیرت په یوشمیرکتابوکې لیکلی دی،چې خدیجة رضی الله عنها بحیراء راهب ته هم ولاړه اودا پیښه یې ورته بیان کړه ، بحیراء راهب دجواب الفاظ تقریباً داسی دی لکه عداس چې

---

(۱) فتح الباری جلد ۱۲ صفحه ۳۱۷ زرقانی جلد ۱ صفحه ۲۱۶)
(۲) الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۹۵)
(۳) الاصابه جلد ۴ صفحه ۲۱۸)
(۴) عداس رضی الله عنه دعتبه بن ربیعه مریئ وو دنینواسیمی اوسیدونکی وو نینواهغه ځای دی چې یونس علیه السلام دالله جل جلاله له طرفه رالیږل سوی وو عداس په مذهب نصرانی وو وروسته په اسلام مشرف سو اصابه جلد ۲ صفحه ۲۶۶ ترجمه عداس رضی الله عنه)

سیف لودین کتابتون

ورته وویل ، په ترمذی کې ، له عائشه صدیقه رضي الله عنها څخه روایت سوی دی چی خدیجه رضي الله عنها یو ورځ له رسول الله ﷺ ته وویل چی ورقه خوستادنبوت اورسالت تصدیق وکی مگر ددعوت تراعلان مخکې هغه وفات سو ، نبی کریم ﷺ وفرمایل : ماورقه په خوب ولیدی چی په سپینو جامو کې دی که هغه په دوزخ کی وای نو په بله جامه کې به وو (فتح الباری کتاب التفسیر سورة علق)

په مسند بزار او مستدرک دحاکم کې له عائشه صدیقه رضي الله عنها څخه روایت سوی دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل : ورقه ته بدمه وایاست ما دهغه دپاره په جنت کې یو باغ یادوه باغونه لیدلی دی (۱)

خدیجة الکبری رضي الله عنها ولی رسول الله ﷺ ورقه یاعداس ته وروستی ؟

خدیجه رضي الله عنها به رسول الله صلی الله علیه وسلم کله ورقه ته وروستی او کله عداس ته او دهغه حال به یې ورته بیانوی په دې سره دځه شک او تردد لیری کیدل او یقین حاصلول مقصود نه وو بلکې درسول الله ﷺ تسلی او تشفی مقصود وه ځکه دوحی دنازلیدو په وجه پررسول الله ﷺ باندی یو ځانګړی ویره او دهشت لویدلی وو ددې لپاره چی ویره په سکون او داډ بدله سی .

او خدیجه رضي الله عنها له نبی کریم ﷺ سره ځکه نکاح وکړه چی دهغه مبارک غیبی کرامتونه او خلاف العادت کارونه یې لیدلی وه په دې هیله او امید یې نکاح کړی وه چی دکوم نبی آخر الزمان زیری چی دې دخپل آکا دزوی ورقه بن نوفل څخه په وار وار اوریدلی وه دهغه مصداق نبی کریم ﷺ سی کله چی پرهغه باندی وحی نازله سوه او دغار حراء څخه کورته راغلی او خدیجه رضي الله عنها ته یې بیان وکی نو دخدیجه رضي الله عنها ددې خبر په اوریدو سره دنبوت یقین پوخ سو مگر دډیری خوشالی او ډیری مینی په وجه او دښه اطمینان لپاره به کله ورقه او کله عداس ته ورتله ددې لپاره چی په کومه هیله باندی چی دې نکاح کړی وه، الله ﷻ لره دې حمد وی هغه پوره سوه خدیجه رضي الله عنها یوائې دنبی کریم ﷺ په ویره خفه وه په خپل زړه کې ډیره خوشحاله وه او درسول الله ﷺ مقصد هم تسلی او تشفی وه معاذالله دهغه په خپل نبوت اورسالت کې یو ذره شک او شبه نه وه او دجبرئیل علیه السلام په لیدو او دانوارو او اسرارو له لیدلو وروسته شک او شبه هیڅ امکان هم نه لری او ورقه که څه هم عالم وو مگر دحال او کیفیت خاوندنه وو دنبی کریم ﷺ په زړه مبارک باندی چی دوحی کوم کیفیت تیرسوی وو دهغه اصل حقیقت او دهغه اصل خوند کیفیت خورسول الله ﷺ ته معلوم وو ورقه هغه کیفیت نه پیژندی له هغه سره بیخی نااشنا وو بلکې یوائې دعلم په برکت دا ورته معلوم وو چی پر انبیاء علیهم السلام باندی دوحی دنازلیدو په وخت کې داکیفیات رائې ځکه به ورقه

(۱) فتح الباری جلد ۸ صفحه ۵۵۴ عمدة القاری جلد ۱ صفحه ۷۵)

سیف لودین کتابتون

رسول الله ﷺ ته تسلي ورکوله او په داسې وخت کې تسلي هغه څوک ورکولای سي چې هغه ته دا حالت او کیفیت پېښ سوی نه وي خو په څه اجمالي ډول په داسې شیانو خبروي او هغه څوک چې دا کیفیت او حالت ورپېښ وي هغه په خپله ویریدلی او حیران وي هغه د خپل ځان څخه هم خبر نه وي هغه به د نورو څه تسلي وکوي او عقلاً او شرعاً دا ضروري نه دی چې تسلي ورکونکي دې تر صاحب حال افضل او اکمل یا اعلم یا افهم وي فافهم ذلک واستقم.

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د بعثت ورځ او میاشت

پردې خبره د ټولو محدثینو او مؤرخینو اتفاق دی چې د دوشنبې په ورځ رسول الله ﷺ ته د نبوت او رسالت انعام ورکړل سو مګر په دې کې اختلاف دی چې هغه مبارک ﷺ په کومه میاشت کې را ولیږل سو،

حافظ ابن عبدالبر فرمایې: چې د ربیع الاول میاشت په اتم ورځ باندې د نبوت تحفه ورکړل سوه پر دې بناء باندې د بعثت په وخت کې د رسول الله ﷺ عمر شریف پوره څلویښت کاله وو، او محمد بن اسحق فرمایې په اولسم د رمضان المبارک باندې هغه د نبوت په منصب و نازول سو (واتت علیه اربعون فأشرقت : شمس النبوة منه فی رمضان)

په دې اعتبار سره د بعثت په وخت کې د نبی کریم ﷺ عمر شریف څلویښت کاله او شپږ میاشتې کیږي حافظ عسقلاني په فتح الباری کې همدا قول صحی او راجح ګڼلی دی ځکه د غار حراء اعتکاف نبی کریم ﷺ په روژه مبارکه کې کوی د تفصیل دپاره زرقاني جلد۱ صفحه ۲۰۷. فتح الباري جلد۱۲ صفحه ۳۱۳ کتاب التعبیر جلد۸ صفحه ۵۵۱ کتاب التفسیر جلد۱ صفحه ۲۶ بدء الوحی)

رازونه او حکمتونه! (۱): د نبوت او رسالت د مرتبې د سرلوړی لپاره د څلویښتو کالو عمر په دې وجه وټاکل سو ځکه د انسان جسماني او روحاني قوتونه د څلویښت کالو په عمر کې د کمال حد ته رسیږي لکه چې الله ﷻ فرمایې: حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً (الاحقاف) آیت ۱۵)

اصل عمر د انسان خو همدا څلویښت کاله دی تر څلویښت کاله وروسته خو کمزوري او زوال وي د غه رنګه کله چې د رسو ل الله ﷺ جسماني او روحاني قوتونه د کمال حد ته رسیږي او د تجلیات الهیه او نفحات قدسیه د قبلولو استعداد او قوت پوره سو نو بیا الله تعالی به خپل فضل او مهرباني سره هغه ته د نبوت او رسالت انعا م ورکړ..

وَٱللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ (۱۰۵) سورة البقرة)

(۲) د شعبي په یو مرسل روایت کې راغلي دي چې هغه امام احمد ابن حنبل رحمة الله علیه په خپل تاریخ کې ذکر کړی دی چې تر بعثت وروسته د څه وخت لپاره اسرافیل علیه السلام د نبی کریم ﷺ د ملګرتیا دپاره را ولیږل سو کله کله به یې نبی کریم ﷺ ته د ښو آدابو او نورو شیانو ښودنه ورکوله مګر د اسرافیل علیه السلام په واسطه هیڅ کله د قرآن یو آیت هم نه دی نازل سوی د دې روایت سند ... صحیح دی (زرقاني جلد۱ صفحه ۲۳۶)

سیف لودین کتابتون

(۳) داسرافیل ؑ په ملګرتیاکې دې ته اشاره وه چې دانبی ﷺ آخری نبی ﷺ دی له دې وروسته به دقیامت انتظار کیږی ځکه اسرافیل ؑ دشپیلی په پوکلوامر سوی دی، دهغه دشپیلی په پوکولو سره به خلک فناکیږی ،ذکره السیوطی فی الاتقان نقلاعن بعض الائمة)

(۴) دحدیث شریف دالفظ (ثم حُبِّبَ الیه الخلاء) یعنی ګوښه والی اوله خلکوڅخه دبیلوالی مینه په زړه کې ورواچول سوه ، په صیغه دمجهول سره یې راوړه ودې ته اشاره دی،چې دیوائی والی مینه په خپله نه ده پیداسوی بلکې بل چاپه زړه کې وراچولی دی یعنی الله ﷻ داتحفه اوډالۍ ورکړه او دګوښه والی مینه ځکه په زړه کې ورواچول ځکه ګوښه والی اوله مخلوق څخه بیلوالی دټولوعبادتونوسرچینه ده ، بلکې په خپله یوځانګړی عبادت دی او له یوائی والی سره دالله ﷻ ذکر اودالله ﷻ په کائناتوکې فکر که هم ورسره ملګری سی دانوبیا نُورعلی نُور دی

(۵)په دې حدیث شریف کې ودې ته هم اشاره دی چې دمبتدی لپاره یوائی والی اوبیلوالی مناسب دی په کورکې اوپه کلی اوپه زامنواولوڼوکې په استوګنه سره په ښه طریقه عبادت نه سی کیدای ، اوڅوک چی دکمال درجی ته ورسیږی دهغه دپاره دیوائي والی ضرورت نسته ځکه کامل اومنتهی په کور اوکورنۍ کې اوسیدل دالله ﷻ له تعلق څخه نه منع کوی لکه چی الله تعالی فرمایې:

رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ (۳۷) سورة النور) ...... ازدرون شود آشناواز بیرون بیگانه باش............ این چنین زیباروش کم می بود اندر جهان)

مګر دهغه چادپاره چی کمال ته رسیدلی وی هم دومره ضروری دی چی په ورځ کې څه ناڅه دیوائي والی دپاره وخت بیل کی .. لکه چی الله تعالی فرمایی :

فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ (۷) وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ (۸) سورة الشرح)

(۶)غار حراء ته دتلوپه وخت کې رسول الله ﷺ له ځان سره توښه اخیستل ددې دلیل دی چی دخوراک اوڅیښاک برابرول دتوکل ضد نه دی بلکې دالله ﷻ رزق ته دخپل احتیاج اولوړی اواړتیا اواحتیاج ښکاره کیدل دی اودا عین عبادت دی

(فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰ إِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ (۲۴) سورة القصص)

والفقر وصف ذاتٍ لازمٌ ابداً :.............: کما الغنی ابداً وصف له ذاتی ..

فقر اوحاجت زماذاتی صفت دی زماله ذات اوحقیقت سره لازم دی هیڅ کله نه بیلیږی لکه غنی اوبی احتیاجی چی دالله ﷻ ذاتی صفت دی ،، لکه څرنګه چی دالله تعالی دپاره استغناء اوبی احتیاجی لازم دی دغه رنګه فقر اواحتیاج دبنده له ذات سره لازم دی ..

داشعر دحافظ ابن تیمیه دی حافظ ابن تیمیه به داشعرډیر لوستی پوره قصیده په مدارج السالکین کې ذکر سوی ده اودامضمون دې ناکاره په دې اشعاروسره ذکر کړی دی

سیف لودین کتابتون

توغنی مطلقی ای ذوالجلال........ من فقیر مطلقم بی قیل و قال،،.......... توکریم من گدائی مطلقم........ توعزیزی من ذلیل مطلقم

ذات پاکت منبع جود و نوال.......................ماز سرتاپاشده نقش سوال

موسی ﷺ چې کله مدین ته ورسیدی لوږه ورته ورسیدله ده دالله ﷻ په دربارکې خپل فقر اولوږه داسی وړاندی کړه (رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ (۲۴) سورة القصص)

اې ربه هرخير چې ته نازله وی هغه ته زه محتاج یم .

الله ﷻ ته دخپل فقر او احتیاج وړاندی کول عین عبادت دی اودانبیاء علیهم الف الف صلوة وسلام ، داطریقه ده اوپه پټه توښه نه اخیستل دتوکل غوښتنه دی

لکه دیوشمیر بزرگانو داعادت وو چې څو ورځی به یې پرله پسی روژه نیوله مگر تر با لنبت لاندی به یې یوه ډوډۍ خامخا ساتله یوه ورځ یو مرید دشیخ تربالنبت لاندی هغه ډوډۍ راواخیسته ، دشیخ چې کله ورته پام سو نووې لیدل چې ډوډۍ نسته له مریدانو ډیر ناراضه سو اوپه نرمۍ یې ورته وویل مریدانو وویل چې پیرصاحبه ته ددې څه اړتیا لری ؟ شیخ وویل تاسو داگمان کوي چې زه چې څو ورځی پرلپسی روژه نیسم په دې وجه دډوډۍ ساتلو ته هیڅ اړتیانه لرم ستاسو داخیال غلط دی ځکه زه په خپل قوت باندی باور نه لرم بلکې خاص دالله ﷻ په فضل اوکرم باندی باوراوبروسه ساتم اوهروخت دخپل ضعف اوبیوسی څخه وریږم معلومه نه دی چې څه وخت به له ماڅخه داتوفیق اوتائید روحانی واخیستل سی اودبشریت اوجسمانیت خواته به بیرته ولاړ سم اودهغه رازق ذوالقوة المتین دوچی ډوډۍ محتاج بنده به سم زه په خپله دیوه گړی لپاره هم دالله ﷻ له روزی بی اړتیانه سم کیدای دنفس داطمینان دپاره ډوډۍ هرخت له ځان سره ساتم ددې دپاره چې دنفس سره هیڅ غم اوپریشانی ملگری نه سی . سالک ته پرځای دنفس په رزق باندی فقط درزق کیدو په حیثیت سره نه بلکې دالله ﷻ درزق کیدو په حیثیت سره باور کول ښه دی (۱)

(۷) دغار حراء په یوائی اوجلاوالی کې درسول الله ﷺ داعادت شریف وو چې کله کله به کورته راغلی اودڅوور ځوتوښه به یې له ځان سره واخیسته اوبیرته به ولاړی ، په دې کې ودې ته اشاره دی ، چې دیوائی والی اوجلاوالی دخاوندانو دپاره بالکل اړیکی پریکول مناسب نه دی ، دکور اواولادحقوق مراعتول هم ضروری دی په دې وجه یې فرمایلی دی (لارهبانیة فی الاسلام) په اسلام کې اړیکی شلول نسته

دپټو مرضو دعلاج دپاره اوپه عبادت کې دپوخ والی او ټینگ والی دپیدا کولو دپاره که په یو غاریاغره کې دمعلوم وخت دپاره یوائی والی خوښ کې لکه چې دصوفیانو دا طریقه دی نو داسنت کار دی بدعت نه دی ..

(۱) بهجة النفوس جلد۱ ص ۱۱

سیف لودین کتابتون

(۸) او بل وداې ته هم اشاره دی چی که څوک په یوغار یاغره کې دیوائی والی اراده وکوی هغه ته په کاردی چی کورنی دخلوت له ځایه خامخا خبره کې ددې دپاره چی دوئ ته څه اندیښنه او تشویش پیښ نه سی اودده له خوا په زړه کې هیڅ بدګمانه نه وی اوداړتیا په وخت کې هغوئ خبر سی دناجوړی پوښتنه یې وسی او داسی نوری اړتیاوی

(۹) دجبرئیل علیه السلام درې واره زور ورکول دملکی اوروحانی فیض رسولو دپاره وو چی دنبی کریم روحانیت قوی سی اوزړه مبارک دآیات الهیه اوغیبی رازواودالهی علومو تحمل اوبرداشت وکولای سی اودهغه ذات مبارک دخالق اومخلوق په مینځ کې واسطه اودعالم شهادت منتهی اودعالم غیب مبدأ جوړسی . اودعارفینو په داسی طریقه فیض رسول په طریقه دتواتر ثابت دی ..

عَنْ ابنِ عَبَّاسٍ قَالَ ضَمَّنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ (صحیح البخاری) رقم الحدیث ۷۳

له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چی یو ځل نبی کریم ﷺ زه له خپلی سینی مبارکی سره ومښلولم اوداد عایې راته وکړه اې الله جل جلاله دته دخپل کتاب علم ورکړی.

دنبی کریم ﷺ ابن عباس رضی الله عنه له خپلی سینی مبارک سره مښلول داسی دی لکه چی جبرئیل علیه السلام رسول الله ﷺ له خپلی سینی سره مښلولی وو

دابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چی ماغوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ زه ډیروخت له تاڅخه حدیث اورم اوهیر می شی نبی کریم ﷺ وفرمایل څادر وغوړوه ماپټو خپور کې نبی کریم ﷺ په خپل لاس مبارک سره اشاره وکه لکه څوک چی دواړه شونډی راټولی کې څه وغوزوی اودایې وویل اوس پټوله خپلی سینی سره ومښلوه ماهغه پټوله خپلی سینی سره جوخت ونیوی تردې وروسته له ماهیڅ حدیث نه دی هیرسوی (بخاری ج ۱/ ص ۲۲)

حافظ عسقلانی په فتح الباری کې فرمایې : چی په هیڅ حدیث کې ددې تصریح نسته چی رسول الله ﷺ دواړه شونډی ډکی کړی دی اودابوهریره رضی الله عنه په څادر کې اچولی دی .

مګر داکمزوری بنده وایې : چی ان کان صواباً فمن الله وان کان خطأ فمنی ومن الشیطان) زماپه فکر په عالم الغیب کې چی کومه دحفظ خزانه دی نبی کریم ﷺ دهغه خزانی له خوندی سوی علم څخه خوله مبارکه ډکه کړه ، اودابوهریره رضی الله عنه په پټوکې وغورزوله اوبیاهغه دابوهریره رضی الله عنه له پټوڅخه دابوهریره رضی الله عنه وسینی ته ورسیده ، خوندی کیدل که څه هم دخلکوله سترګوپټ شئ دی لیدل کیږی نه مګر دمحرمان علم غیب لیری لیدونکی دسترګو څخه پټ نه دی ، له دې قسم خبروڅخه هغه خلک منکر دی کوم چی دانبیاء علیهم الف الف صلوات الله وسلامه چی دوئ خپل لیدل له انبیاء عزوجل سره یوشان بولی دابوهریره رضی الله عنه دحفظ یوه بله هم عجیبه واقعه دی چی دهغې له دې ځای سره مناسبت نسته علماء دې دفتح الباری جلد ۱ صفحه ۱۹۳ باب حفظ العلم ته رجوع وکوی ..

سیف لودین کتابتون

(۱۰) **علامه طیبی طیب الله ثراه** : په شرح مشکوة کې لیکلي چې دسورت علق په نازل سوی آیاتو کې درسول الله صلی الله علیه وسلم ددې شک جواب ته اشاره دی چې (ما انا بقارئ زه لوستونکی نه یم هغه داچې بیشکه ته لوستونکی نه یې مگر دخپل رب دپاک نوم په مرسته یې ووایه هرڅه به اسانیږی اوپوه سه چې الله ﷻ چاته علم دکتاب اوقلم په واسطه سره ورکوی ، چې هغه ته په اصطلاح کې علم کتابی وایې په علم بالقلم کې ودې ته اشاره دی اوچاته په خپله بیله ظاهری اسبابو اوبیله واسطی علم ورکوی چې هغه ته په اصطلاح کې علم لَدُنِی وایې ، اوپه عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَالَمْ يَعْلَمْ کې ودې ته اشاره دی ، خلاصه دجواب دادی چې که څه هم ته لوستونکی نه یې مگر دالله ﷻ قدرت ډیر فراخ دی ، بیله ظاهری اسبابو اوبیله واسطی څخه هم که وغواړی وچاته علم اومعرفت ورکوی دغه رنگه به الله تعالی تاته هم علم اومعرفت درکړی لکه چې الله تعالی فرمایې :

وَعَلَّمَكَ مَالَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ وَكَانَ فَضْلُ اللهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا (۱۱۳) سورة النساء)

اوالله ﷻ تاته هغه خبری دروښودی چې تاهغه پرته دالله ﷻ له ښوونی نه پیژندلی اودالله ﷻ فضل پرتاباندی ډیر لوی دی .

(۱۱) دخدیجه رضي الله عنها دتسلی څخه له ځوابودامعلومیږی چې دصله رحمی اومیلمستیا او سخااودهمدردی په وجه په دنیاکې هم انسان له آفتوڅخه خوندی کیدای سی (۱)

(۱۲) دخدیجة رضي الله عنها دنبی کریم ﷺ دتسلی دپاره دکمالات اوښو اخلاقویادول ددې دلیل دی چې دچاښائسته او ښه اخلاق اوښه خویونه وی دهغه مخامخ بیانول په دې شرط چې ممدوح په لویی اوځان خوښونه کې داخته کیدوویره نه وی یوائحی دانه چې جائز دی بلکې ښه کاردی (۲)

(۱۳) دنبی کریم ﷺ ترټولو خلکو مخکې ددې پیښې بیانول وخدیجه رضي الله عنها ته ددې خبری دلیل دی چې سړی ته که کوم مهم کارپیښ سی نو که میرمن یې دیندار ه پوهه اوهوښیاره ښځه وی نوترټولو مخکې دې هغې ته بیان کې اووروسته دې وعلماء اوپوهانو خلکوته یادونه وکوی .

(۱۴) خدیجه رضي الله عنها ددې پیښې په اوریدو سره نبی کریم ﷺ ورقه بن نوفل ته بیول چې دهغه وخت ترټولولوی عالم وو ددې خبری دلیل دی چې کله یو نااشناواقعه پیښه سی نو علماء ربانیین ته دې وړاندی کول په کاردی ..

(۱۵) اوبل داچې دعلماء په خذمت کې دبل چاپه واسطه حاضریدل ډیر ښه دی لکه نبی کریم ﷺ چې دخدیجة الکبری رضي الله عنها په واسطه له ورقه بن نوفل سره ملاقات وکي رسول الله

سیف لودین کتابتون

ﷺ یوائې ورقه ته نه ورغلی بلکې خدیجه رضي الله عنها یې هم له ځان سره ملګرې کړه ځکه دهغې له ورقه خپلوی هم وه نو له دې معلومه سوه چې دعلماء او ښو خلکو دملاقات دپاره که بل څوک لاړ ښود ورسره وی نو دا ډیر مناسب کار دی ددې دپاره چې په خبرو کې آسانی وی

(۱۶) کوم سړی چې ترده په عمر کې مشروی دهغه عزت او اکرام ضروری دی که څه هم دغه دلږ عمر خاوند تر ټولې دنیا په علم او فضل او مرتبه او کمال کې لوړوی .

(۱۷) کوچنی که څه هم په رتبه کې لوی وی مګر دمشر لپاره داروادی چې په خبرو کې وکشر ته هغه ټکی ووایې چې دکوچنیانو دپاره ویل کیږی ، لکه ورقه سره له دې چې رسول الله ﷺ یې رسول او نبی ګڼي ، او په يَاابْنَ اَخِیْ ای زما وراره یې ورته وویل او بل له دې څخه دا هم معلومه سوه چې کشران کله دمشرانو مجلس ته راځی نو دمشرانو دادب خیال به کوی تر څو چې مشران په خپله خبره شروع ونه کوی تر هغه وخته دی کشران خبره نه شروع کوی ، لکه خدیجه رضي الله عنها چې کله رسول الله ﷺ ورقه ته بو تلی او دا یې وویل (یا ابن عم اسمع من ابن اخیک) ای زماداکازویه له خپل وراره څخه خبره واوره ؟ رسول الله ﷺ په خپله خبر شروع نه کوله خو کله چې ورقه په خبرو پیل وکوی او وې ویل :(یا ابن اخی ماذا تری) ای زما وراره تا څه لیدلی دی : وروسته نو نبی کریم ﷺ ټوله قصه ورته بیان کړه (۱)

(۱۸) دورقه په خوب کې دنبی کریم ﷺ داوینا چې آیا داخلک به ماله مکې څخه باسی. له دې معلومیږی چې له وطن څخه بیلوالی انبیاء علیهم السلام ته هم ډیر ګران دی (۲)

(۱۹) دغه رقم په دغه وخت کې دورقه داوینا چې کاش زه په دغه وخت کې قوی او ځوان وای کله چې ستا قوم تاله وطن باسی دا ددې دلیل دی چې انسان ته دخیر امید کول جائز دی که څه هم دهغه خیر دکولو دپاره امید نه وی (۳)

(۲۰) له امام مالک رحمة الله علیه څخه چاپوښتنه وکړه چې دجبرئیل آمین نوم اینښودل څنګه دی ؟ هغه وویل دا ښه کار نه دی (۴)

دالله ﷻ دتوحید او دنبی کریم ﷺ درسالت وروسته تر ټولو لومړی کار اودس او لمونځ

دالله ﷻ دیووالی او رسالت ښودلو وروسته تر ټولو لومړی دکوم شئ ښودنه نبی کریم ﷺ ته و سوه ، هغه اودس او لمونځ وو ، اول جبرئیل آمین علیه السلام پر ځمکه باندی په خپله پونده سره یوه لته ورکړه چې په هغې سره داوبو یوه چینه راووته جبرئیل علیه السلام په هغه اوبو اودس وکوی او نبی کریم ﷺ ورته کتل ، وروسته نبی کریم ﷺ هم دده په څیر اودس و کوی

(۱) بهجة النفوس جلد ۱ صفحه ۲)
(۲) روض الانف جلد ۱ صفحه ۱۵۸)
(۳) بهجة النفوس جلد ۱ صفحه ۲۱)
(۴) روض الانف جلد ۱ صفحه ۱۵۶

باهتمام معراج خان

سیف لودین کتابتون

بیا جبرئیل علیه السلام دوه رکعاته لمونځ وکوی ، اونبی کریم ﷺ اقتداء ورپسی وکوله اوداودس اودلمانځه ترخلاصیدووروسته کورته راغلی وخدیجه رضی الله عنها ته یې اودس اولمونځ وښودل ، داروایت په دلائل ابی نعیم جلد۱ صفحه ۷۰ کې له عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه روایت سوی دی حافظ عسقلانی فرمایې ددې حدیث سند ضعیف دی (۱)

اسامه بن زید رضی الله عنه دخپل پلار زید بن حارثه رضی الله عنه څخه روایت کوی چی رسول الله ﷺ وفرمایل چی دبعثت په پیل اودوحی دنازلیدو په وخت کې جبرئیل علیه السلام ماته راغلی ، اوداوداسه اولمانځه ښودنه یې ماته وکړه . داروایت مسنداحمداوسنن دارقطنی اومستدرک دحاکم کې ذکر سوی دی ..

علامه عزیزی په شرح دجامع صغیر کې ددې حدیث په اړه فرمایې : قال الشیخ هذاحدیث صحیح (سراج المنیری جلد۱ صفحه ۲۹) اوداحدیث په سنن ابن ماجه کې هم ذکر سوی دی اوعلامه سهیلی هم په خپل سند سره روایت کړی دی په دې دواړوسندوکې عبدالله بن لهیعه دی په نوموړی کې دمحدثینو خبری سته ، حافظ ابن سید الناس قدس الله سره فرمایې : لکه څنګه چی داحدیث دزید بن حارثه رضی الله عنه څخه روایت سوی دی دغه رنګه دبراء بن عازب رضی الله عنه اوعبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه هم روایت سوی دی ..

دابن عباس رضی الله عنه په حدیث کې راغلی دی ، چی دالومړی فرض وو (عیون الاثر صفحه ۹۱) علامه سهیلی داحدیث ذکر کړی وروسته یې ویلی دی نو اودس په اعتبار دفرضیت سره مکی دی اوپه اعتبار دتلاوت سره مدنی دی ځکه داوداسه آیت ومدینی ته له هجرت وروسته نازل سوی دی (۲)

دبعثت له پیل څخه دنبی کریم ﷺ لمونځ کول خو یقیناثابت دی اختلاف په دې کې دی چی دپنځه لمنځودفرض کیدوڅخه مخکې هغه چی دمعراج په شپه فرض سوی دی ترهغه مخکې په نبی کریم ﷺ باندی لمونځ فرض ووکه نه دبعض علماء په نزد ترمعراج مخکې هیڅ لمونځ فرض نه وو هغه چی به څومره غوښتل لمونځ به یې کوی . یوائې دشپې دلمانځه حکم نازل سوی وو

اویو شمیر علماء بیاوایې دبعثت له پیل څخه دوه لمنځونه فرض وو ، دوه رکعته دسهار لمونځ اودوه رکعته دمازیګر لمونځ لکه چی الله تعالی فرمایې :

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ (۵۵) سورة غافر) وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ (۳۹) سورة ق) وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ (۱۱۴) سورة هود)

---

(۱) الاصابه جلد۱ صفحه ۲۸۱
(۲) روض الانف جلد۱ صفحه ۱۶۳

سیف لودین کتابتون

ژباړه : او د الله تعالی پاکی اوستاینه کوه ماښام او سهار او مخکې تر لمر ختلو او مخکې تر لمر لویدا و دالله ﷻ پاکی او صفتونه بیانوه او لمونځ کوه دورځی په دواړو طرفو کې یعنی سهار او ماښام .

او څه وخت وروسته سورة مزمل نازل سو او د شپې دلمانځه یعنی تهجد حکم نازل سو ، فتح الباری کتاب الصلوة باب کیف فرضت الصلوة ، علامه سهیلی فرمایې ، دمزنی او یحی بن سلام څخه دا روایت نقل سوی دی (۱)

دمقاتل بن سلیمان څخه روایت سوی دی چی الله ﷻ په لومړی سر کې دوه رکعته د سهار او دوه رکعته د ماښام لمونځ فرض کړی بیایې پنځه لمنځونه د معراج په شپه فرض کړه (۲)

سابقین لومړنی او ترټولو مخکې صحابه کرام رضی الله عنهم ورضوا عنهُ (۳)

ترټولو مخکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم بی بی صدیقة النساء خدیجة الکبری ﷞ اسلام قبول کی ، او د دوشنبی په ورځ د ماښام په وخت کې یې ترټولو مخکې له رسول الله ﷺ سره لمونځ وکې ، ځکه لومړنی اهل قبله هم دوئ دی (اصابه او عیون الاثر)

او بیا ورقه بن نوفل په اسلام مشرف سو ترده وروسته علی کرم الله وجهه چی له ډیره وخته دنبی کریم ﷺ په روزنه او پالنه کې وو (۴) دلسو کالو په عمر په اسلام مشرف سو او د بعثت په دویمه ورځ چی دسه شنبی ورځ وه له نبی کریم ﷺ سره لمونځ وکې (۵)

دابن اسحق په روایت کې راغلی دی : چی دبعثت په دویمه ورځ علی ﷛ رسول الله ﷺ او خدیجه ﷞ پر لمانځه ولیدل پوښتنه یې وکړه چی دا څنګه کار دی ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : دا دالله ﷻ دین دی دغه دین پیغمبرانو دنیا ته راوړی دی ، زه تا دالله ﷻ وخواته رابولم ، چی دهغه عبادت وکوه ، او دلات او عزی څخه انکاوکوه علی ﷛ وویل دا ییخی نوی شئ دی ، او ددې ما ییخی نوم هم نه دی اوریدلی ترڅو چی زه خپل پلار ابو طالب ته ونه وایم ترهغه وخته هیڅ هم نه سم ویلای ، پرنبی کریم ﷺ باندی دا خبره ګرانه سوه چی

(۱) روض الانف جلد ۱ صفحه ۱۶۳)
(۲) عیون الاثر جلد ۱ صفحه ۹۱)
(۳) ترجمه : الله تعالی له دوئ څخه راضي سو او دوئ دالله تعالی څخه راضی سو دصحابه کرامو ﷡ په اړه په قرآن کریم کې ځای ځای درضی لفظ راغلی دی داپه یادساتی چی الله ﷻ له هغه چا څخه راضی کیږی چی دهغه خاتمه پر ایمان او اخلاص وی ، دفاسق او منافق څخه الله ﷻ هیڅکله نه راضی کیږی .
(۴) دجهالت پرمهال په مکه کې وچکالی راغله نبی کریم ﷺ خپل آکا عباس ﷛ ته وویل چی ابو طالب ډیر عیال داره دی دییوزلی په وجه موږ باید له ابو طالب سره داولادو په ساتنه کې مرسته وکوو ، دیو څه اولادو ته او دیو څه اولادو به یې زه کفیل سم ، نبی کریم ﷺ او عباس ﷛ دواړه ابو طالب ته ورغله او دغه غوښتنه یې ځنی وکړه ابو طالب ورسره خوښه کړه ورته وې ویل چی عقیل ماته پریږدی او نور چی کوم یو تاسو غواړی له ځان سره بوزی ابو طالب علی ﷛ نبی کریم ﷺ ته وسپاری .. سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۹۴)
(۵) عیون الاثر جلد ۱ صفحه ۹۳)

سیف لودین کتابتون

دده رازبل چاته ښکاره سی ځکه یې ورته وویل اې علی ﷛ که ته اسلام نه قبلوی نو دا خبره بل چاته مه کوه ، علی ﷛ پټه خوله سو یوه شپه لانه وه تیره سوی چی دعلی ﷛ په زړه کې داسلام نورو ځلیدی کله چی سهار سو دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضر پوښتنه یې وکړه چی ته دڅه شئ بلنه ورکوی ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : چی شاهدی ورکړه چی الله ﷻ یودی دده هیڅ شریک نسته اودلات اوعزی څخه مخ واړوه اودبت دعبادت کولو څخه بیزاره سه علی ﷛ اسلام ومنی اوتریوه کاله یې خپل اسلام له ابوطالب پټ وساتی لکه چی په یوشمیرروایاتو کې راغلی دی (۱) له علی ﷛ وروسته دنبی کریم ﷺ ازادسوی مریی زیدبن حارثه اسلام راوړی اوله نبی کریم ﷺ سره یې یوځای لمونځ اداکړ (۲)

دابوبکر صدیق رضی الله عنه اسلام راوړل

کله چی ټول اهل بیت په اسلام کې داخل سو نوبیارسول الله ﷺ خپل خاص ملګروته په دې لوی رحمت اوغټ نعمت کې دداخلیدوبلنه ورکړه ، ترټولومخکې هغه خپل صدیق مخلص اوخواږه اوپخوانی ملګری یعنی ابوبکرصدیق بن قحافه ته د اسلام بلنه ورکړه ابوبکر صدیق ﷛ پرته دڅه فکر کولواوپرته دڅه پوښتنی په اول ځل دنبی کریم ﷺ بلنه ومنله ،

چشم احمد برابوبکر ی زده.............وزیکی تصدیق تصدیق آمده

نبی کریم ﷺ رښتیا وړاندی کړل رښتینی دهغه تائیدوکي . یوه رښتینی دبل رښتینی تصدیق وکی په حدیث شریف کې راغلی دی نبی کریم ﷺ فرمایې ماچی وهرچاته اسلام وړاندی کړی دی هغه له سلامه څه ناڅه خامخاویریدلی دی یوائې ابوبکر صدیق ﷛ ووچی داسلام په منلو کې ده یوه زره ځنډاوشاته والی نه دی کړی (۳)

دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه چاپوښتنه وکړه چی قرټولولومړی څوک مسلمان سوی دی ؟ ابوحنیفه رحمة الله علیه وویل (رجل واحد) یعنی له آزادونارینه ووڅخه ترټولومخکې ابوبکر ﷛ اسلام راوړی ، اوپه ښځوکې خدیجة الکبری ﷺ اوپه مریانوکې زیدبن حارثه ﷛ اوپه هلکانوکې علی رضی الله عنه (۴) لومړی اسلام راوړی دی ، دبدء الوحی له روایاتوکه څه هم په ښکاره دامعلومیږی چی علی ﷛ لومړی اسلام راوړی دی مګر دهغه دامخکې والی دفضیلت اولوړوالی سبب نه دی ځکه خدیجه ﷺ دنبی کریم ﷺ بی بی وه اودنبی کریم ﷺ تابع وه اوعلی ﷛ کوچنی وو ، اودنبی کریم ﷺ په تربیه اوروزنه کې وو دکورنی په ښځواوکوچنیانوکې داتوان نه وی چی دوئ دمشرانوخبرونه منی ، اوابوبکر صدیق

(۱) البدیه والنهایه جلد ۳ صفحه ۲۴)
(۲) عیون الاثر جلد ۱ صفحه ۹۴)
(۳) عیون الاثر جلد ۱ صفحه ۹۵)
(۴) البدایه النهایة جلد ۳ صفحه ۲۹)

سیف لودین کتابتون

ﷺ خو مستقل او آزاد سړی وو د چا تابع او تر لاس لاندی نه وو، ده مبارک پیله څه شک او شبه او پیله څه زور او پیله تابعیت اسلام منل د سلگونو فضیلتو لامل دی او بل دا چی د خد یجه رضی الله عنها او علی رضی الله عنه اسلام تر دوئ پوری خاص وو او دا ابوبکر رضی الله عنه اسلام متعدی وو ځکه هغه نور و ته هم بلنه ورکوله او غیر متعدی تر لازمی ډیر ښه او غوره دی ځکه ابوبکر رضی الله عنه په اسلام کې له داخلیدو سره سم د اسلام په نشر او خپراوی او بلنه او تبلیغ بوخت سو علی رضی الله عنه خو خپل اسلام د خپل پلار څخه هم پټ کړی وو (زرقانی جلد ۱ صفحه ۴۴۴) علی رضی الله عنه د ابوطالب دیبوزلی په وجه د نبی کریم ﷺ په تربیه او روزنه کې وو په داسی حال کې هغه نبی کریم ﷺ او اسلام ته څه مالی کومک هم نه سور سولای ، او بل دا چی د کوچنیانو عادت دی چی دوئ د هرچا په پالنه او روزنه کې وی، دوئ په هر کار کې د خپل پالونکي پیروی کوی وکوچنیانو ته د کار گټه او تاوان ، ښه او بد، پوهه ، او صلاحیت د دي شیانو هیڅ بیلوالی نه سی کولای دغه حال په هغه وخت کې د حضرت علی کرم الله وجهه وو او ابوبکر صدیق رضی الله عنه خو غټ سړی وو هوښیار او زیرک او په خپله گټه او زیان ، ښه او بد په ټولو خبرو پوهیدی او د نبی کریم ﷺ همزولی وو او د مکی له سخیانو او مخوورو او بانفوذه خلکو څخه وو ، ابوبکر رضی الله عنه په داسی حالت کې بیله څه زوره په لومړی ځل بلنه اسلام ومنی ، او په خلکو کې یې خپل اسلام ښکاره کي ، او په اسلام کې له داخلیدو وروسته یې سمدستی دعوت او بلنه پیل کړه داسی اسلام د سلگونو بهتریو او فضیلتو سبب دی ، خلاصه د خبری دا دی چی ابوبکر صدیق رضی الله عنه داسی سړی وو ، چی آزاد وو مریئ نه وو او ځان ته وو د بل چا تر لاس لاندی نه وو او ډیر هوښیار او د لوړی مرتبی لرونکي وو، هغه په اول وخت کې اسلام راوړی او دپیل څخه یې د اسلام په بلنه کې د نبی کریم ﷺ لاس او بازو جوړ سو ،هرڅه مال او شتمنی او د ژوند ټولی اسانتیاوی یې د اسلام د پاره وقف کړی ، او تر پوره دریالس کالو پوری یې په هر قسم تکلیفو او غمو کې د نبی کریم ﷺ مرسته او ملگری وکړه ، او د دښمنانو دفاع یې وکړه ، او علی رضی الله عنه د کوچنیوالی په وجه د دښمنانو دفاع او د هغوئ د مقابلی توان نه هم وو، او ابوبکر صدیق رضی الله عنه خو په اسلام کې له داخلیدو سره سمدستی د اسلام دعوت شروع کي ، د ده دوستان او خاص ملگری چی به ده ته راتله یا به دی د هغوئ خواته ورتلی ، نو هغوئ ته به یې د اسلام بلنه ورکوله د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د دعوت او کوښښ په پایله کې د ده خاص ملگری او دوستان په اسلام مشرف سوه هغه [1] صحابه کرام رضی الله عنهم دا دی -(۱) عثمان بن عفان رضی الله عنه ۲ زبیر بن عوام رضی الله عنه ۳ عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ۴ طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه ۵ سعد بن وقاص رضی الله عنه د قریشو شریف او عزت مند کورنیو د هغه په لاس باندی اسلام راوړی ، ابوبکر صدیق رضی الله عنه دوئ ټول له ځان

(۱) د مکی له مخورو مشرانو څخه یو ولس یا دوولس صحابه رضی الله عنهم وو څخه وروسته په اسلام مشرف سو)

سره ملګری کړه اودرسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو، ټولو اسلام راوړی اودنبی کریم ﷺ سره یې لمونځ وکوی ،تردوئ وروسته دغه لاندی صحابه کرام ﷺ په اسلام مشرف سوه یو لکه ابوعبیده عامر بن جراح ؓ (۱)ارقم بن ابی الارقم ؓ دمظعون بن حبیب درې زامن عثمان بن مظعون ؓاوقدامه بن مظعون ؓاوعبدالله بن مظعون ؓ او عبیده بن الحارث ؓاوسعیدبن زید بن عمرو بن نفیل ؓ اودهغه ښځه فاطمه بنت خطاب ؓ دعمرفاروق ؓ خور اواسماء بنت ابی بکر ؓ اوخباب بن الارت ؓ اوعمیر بن ابی وقاص ؓ دسعدبن ابی وقاص ؓورور اوعبدالله بن مسعود ؓ (۲) اومسعودبن القاری ؓ اوسلیط بن عمرو ؓ اوعیاش بن ابی ربیعة ؓ اودهغه میرمن اسماء بنت سلامه ؓ اوخنیس بن حذافه ؓ اوعامربن ربیعه ؓ اوعبدالله بن جحش ؓ اودده ورور ابواحمدبن جحش ؓ اوجعفر بن ابی طالب ؓاودده میرمن اسماء بنت عمیس ؓ اوحاطب بن الحارث ؓ اودده ښځه فاطمه بنت مجلل ؓ اودده ورور خطاب بن حارث ؓ اودهغه ښځه فکیهه بنت یسار ؓ اومعمربن حارث ؓ اوسائب بن عثمان بن مظعون ؓ اومطلب بن ازهر ؓ اودده ښځه امله بنت بنت ابی عوف ؓ اونعیم بن عبدالله ؓ النحام (۳) اوعامر بن فهیره ؓ (۳)دابوبکر صدیق ؓآزادسوی مریئ اوخالدبن سعیدبن العاص ؓ اودده ښځه امنیه بنت حلف ؓ اوحاطب بن عمرو ؓ اوابوحذیفه بن عتبه ؓ او واقدبن عبدالله ؓ اودبکیربن عبدیالیل څلورزامن (۴) خالد ؓ، عامر ؓ، عاقل ؓ، ایاس ؓ اوعمار بن یاسر ؓ اوصهیب بن سنان ؓ دعبدالله بن جدعان ازادسوی مریئ

---

(۱) ابوعبیده ؓ په دارالارقم کې دپناه اخیستو مخکې اسلام راوړی (طبقات ابن سعد)

(۲) عبدالله بن مسعود ؓ فرمایې چی ما به دعقبه بن ابی معیط پسونه اوبزی پوولی یوه ورځ نبی کریم ﷺ زما درمی په څنګ کې تیرسو اوابوبکر ؓ ورسره ملګری وو هغه له ماپوښتنه وکوله چی ستاسره شیدی سته ماورته ویل زه آمین یم ده راته وویل کومه بی شیدو بزه سته نورایې وله مایوه بی شیدو میږه راوستله نبی کریم ﷺ دهغې په غولانځه لاس مبارک کیښودی اوشیدی څنی ولوشولی ابوبکر ؓ وروسته ماته هم شیدی راکړی اوپه هغوشیدو موړدواړه ماړه سو وروسته ده مبارک وغولانځی ته وویل (اقلص) اې شیدوبندی سی ،هغه شیدی هم بندی سوی دامعجزه چی می ولیده مسلمان سوم اونبی کریم ﷺ ته مې عرض وکی یارسول الله ﷺ ماته تعلیم راکړه ، نبی کریم ﷺ خپل لاس مبارک زماپرسرباندی تیر کې ، اووې فرمایل بارک الله فیک فانک غلام معلم ، الله تعالی دی پرتابرکت نازل کې ته دالله تعالی روزل سوی کوچنی یې ، حافظ ابن سید الناس داروایت په خپل سندسره بیان کړی دی (عیون الاثر)

(۳) نحام له نحم څخه جوړدی نحم آوازته وایې ، نبی کریم ﷺ وفرمایل :لقدسمعت نحمه فی الجنة) مادنعیم بن عبدالله ؓ دږغ په جنت کې اوریدلی دی (سیرة ابن هشام به حواله الاصابه جلد ۳ صفحه ۵۶۷ طبقات جلد ۴ صفحه ۱۰۲)

(۴) عامر بن فهیره ؓ دبیر معونه په غزا کې شهید سو ملائکه وو دده بدن اسمان ته پورته کی (روض الانف جلد ۱ صفحه ۱۶۸)

(۵) په دارالارقم کې دغه څلورسره وروڼه خالداوعامر اوعاقل اوایاس ؓ ترټولولومړی په اسلام مشرف سو اودنبی کریم ﷺ په لاس یې بیعت وکی اوکله چی دهجرت حکم نازل سودوئ څلورواړه له خپلو میرمنو اوکوچنیانوسره هجرت وکې په مکه کې ددوئ څوک پاته نه سو سرایوته قلف واچوی اومدینی منوری ته ولاړل ، درفاعه بن عبدالمنذر په سرای کې میشت سو (طبقات ابن سعد جلد ۳ صفحه ۲۱۲ قسم اول دعاقل نوم په اصل کې غافل وو رسول الله ﷺ دغافل پرځای عاقل نوم پرکښیودی (اصابه جلد ۲ صفحه ۲۷۴) مخکې لدآخرت غافل وو اوس عاقل سو)

سیف لودین کتابتون

کله چې به دلمانځه وخت راغلی نو نبی کریم ﷺ به په یوه کنده یا دره کې په پټه لمونځ کوی یوځل خوداسی پیښه وسوه چې نبی کریم ﷺ او علی ﷺ په یوه دره کې لمونځ کوی او ناڅاپه ابوطالب ددوئ خواته ورغلی علی ﷺ تردغه وخت خپل اسلام پټ ساتلی وو دده خپل مور او پلار او اکاګان او نورخپلوان نه وو په خبر، ابوطالب نبی کریم ﷺ ته وویل، اې وراره دا څنګه دین دی او دا څنګه عبادت دی چې ته یې کوی رسول الله ﷺ وفرمایل : اې اکا دا هغه دین چې دالله تعالی او دهغه دټولو ملائکه وو او پیغمبرانو علیهم السلام او خاص پیا زموږ دنیکه حضرت ابراهیم ﷺ خوښ کړی دین دی او الله ﷻ زه خپلوټولو بندګانو ته رسول ﷺ الیږلی یم ، ترټولو زیات ته زما دنصیحت حقداره یې زه تا دخیراو هدایت لاری ته رابولم اوتاته په کاردې چې ترټولو مخکې هدایت او حق دین ومنې اوپه دې هکله زما مرسته او کومک وکوی ؟

ابوطالب وویل اې واراره زه دخپل پلاراونیکه دین خونه سم پریښودای مګر دومره خوخامخا کوم چې تاته به څوک ضرر نه سی رسولای ، وروسته ابوطالب علی ﷺ ته مخ واړوی چې اې زویه دا څنګه دین دی چې تاخوښ کړی دی ، علی ﷺ ورته وویل پلاره ماپرالله ﷻ ایمان راوړی دی او دهغه پررسول ﷺ باندی اوڅه چې نبی کریم ﷺ دالله ﷻ له طرفه راوړی دی دهغه تصدیق می کړی دی او له هغه سره دالله ﷻ عبادت او بندګی کوم اودهغه امرمنم ابوطالب وویل ډیر ښه ته یې دخیراونیکۍ خواته بللی یې دمحمد ﷺ ملګری مه پریږده (سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۸۷)

دجعفربن ابی طالب رضی الله عنه اسلام راوړل (۱)

یوه ورځ علی ﷺ درسول الله ﷺ سره یوځای په عبادت بوخت وو علی ﷺ دنبی کریم ﷺ ونبی خواته وو ناڅاپه ابوطالب ددوئ خواته ورغلی له هغه سره جعفرهم ملګری وو هغه چې کله دوئ پرلمانځه ولیدل نو جعفر ﷺ ته یې وویل اې زویه ته هم دعلی ﷺ په څیر دخپل اکادزوی دمټوبازو سه اوچپه خواته ودریږه له دوئ سره په لمانځه کې شریک سه (اسدالغابة جلد ۱ صفحه ۱۸۷) جعفر ﷺ له مخکنیو صحابه کرام ﷺ څخه دی له یودیرش یاپنځه دیرش صحابه ﷺ څخه وروسته په اسلام مشرف سوی دی (اصابه جلد ۱ صفحه ۲۳۷)

دعفیف کندی رضی الله عنه اسلام راوړل (۲)

---

(۱) جعفر ﷺ دعلی ﷺ سکه ورور دی ترعلی ﷺ لس کاله مشر دی نجاشی دحبشی پاچادده په لاس بیعت وکی او په اسلام مشرف سو دموته په غزاکې شهید سو ترشهادت وروسته یې پردبن مبارک ترنیوی زیات ټپونه وو پوره یادونه به ان شاء الله دموته په غزاکې راسی (اصابه)

(۱) عفیف لقب دی حافظ فرمایې چې دده اصلی نوم شراحیل وودپاک لمنې په وجه په عفیف سره مشهوردی لکه چې دعفیف له اشعاروڅخه معلومیږی دده شعردادی (وقالت لی هلم الی التعاب :: فقلت عفت عما تعلمینا) دې زه دلهو اولعب وخواته راوبللم ماورته وویل چې تاته خوزما پاک لمنی او عصمت ښه معلوم دی (اصابه جلد ۲ صفحه ۴۸۷)

سیف لودين كتابتون

عفيف كندي رضي الله عنه د عباس رضي الله عنه دوست وو دعطروتجارت به یې کوی دتجارت لپاره به یمن ته تلی راتلی عفیف کندی رضي الله عنه فرمایي چې یوه ورځ زه په منی کې له عباس رضي الله عنه سره وم یوسړی راغلی لومړی یې په ډیراطمینان اودس وکوی اوبیالمانځه ته ولاړسو له ده وروسته بیایوه ښځه راغله هغې هم دغه رنګه اودس وکوی اوبیالمانځه ته ولاړه سوه بیادیوولسوکالوهلک راغلی هغه هم اودس وکوی اودهغه سره برابر دلمانځه لپاره ودریدی ماله عباس رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې دابیاکوم دین دی ، عباس رضي الله عنه وویل دا زما دوراره محمدرسول الله ﷺ دین دی ، محمد ﷺ وایي چې زه الله جل جلاله رالیږلی یم اوداهلک هم زماوراره علی بن ابی طالب رضي الله عنه ده هم دمحمد ﷺ دین منلی دی ، اوښځه دمحمدبن عبدالله ﷺ میرمن ده ، عفیف رضي الله عنه وروسته په اسلام مشرف سو اوتل به یې ویل چې کاشکی زه څلورم مسلمان وای (عیون الاثر)

قال ابن عبدالبر هذا حديث حسن جداً حافظ ابن عبدالبر فرمایي چې داحادیث امام دی ددې حدیث په حسن کیدوکې هیڅ خبره نسته حافظ عسقلانی لیکی چې داحدیث امام بخاری هم په خپل تاریخ کې راوړی دی اوبغوی اوابن منده هم کر ذکرکړی دی خوپه هغه کې نورزیادت هم شته وایي چې عباس رضي الله عنه وفرمایل چې زماوراره داهم وایې چې دقیصر اوکسری خزانی به هم زه فتح کوم (اصابه جلد ۲ صفحه ۴۸۷ ترجمه عفیف کندی رضي الله عنه)

دطلحه رضی الله عنه اسلام راوړل

طلحه رضي الله عنه فرمایې : چې زه دتجارت لپاره بصری ته تللی وم یوه ورځ دبصری په بازار کې وم چې یوراهب دخپلی عبادتخانی څخه داناره وکړه چې پوښتنه وکوی چې په دې خلکو څوک دمکی دحرم اوسیدونکی نسته ؟ماورته وویل چې زه دمکی اوسیدونکی یم .

راهب وویل چې آیااحمدصلی الله علیه وسلم ښکاره سوی دی ماوویل څوک صلی الله علیه وسلم راهب وویل دعبدالله بن عبدالمطلب زوی دامیاشت دهغه دښکاره کیدو دی په مکه کې به ښکاره کیږی یوی شګلنی اودخورمالرونکي ځمکی ته به هجرت کوی اومحمد ﷺ آخری نبی دی ګوره شاته پاته نه سی ، دراهب په دې خبروسره زماپرزړه باندی یوآثر وسو زه سمدستی مکی ته راغلم اوله خلکومی پوښتنه وکړه چې کومه نوی خبره خوبه نه وی پیښه سوی خلکوویل هوپیښه سوی دی ، محمّدآمین (صلی الله علیه وسلم) دنبوت دعوی کړی ده اودقحافه زوی یعنی ابوبکر صدیق رضي الله عنه له هغه سره تللی دی زه سمدستی ابوبکرصدیق رضي الله عنه ته ورغلم ابوبکرصدیق رضي الله عنه زه درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضر کړم اوله حاضریدوسره سم په اسلام مشرف سوم اورسول الله ﷺ ته مې دراهب ټوله قصه بیان کړه (اصابه جلد ۲ صفحه ۲۲۹) ترجمه طلحه رضي الله عنه

سیف لودین کتابتون

دسعدبن ابی وقاص رضی الله عنه اسلام راوړل

9/9 سعدبن ابی وقاص ﷺ فرمایې : چې ماداسلام تررااوړلو مخکې درې شپې پرلپسې داسې خوب ولیدی چې زه په ډیره تیاره کې یم دتیاری په وجه هیڅ شئ هم نه ویم ناڅاپه لمرراوخیژی اوزه په هغه پسی سم که ګورم زیدبن حارثه ﷺ اوعلی ﷺ اوابوبکر ﷺ ترمامخته دغه رڼاته راغلی دی نوزه سمدستی رسول الله ﷺ ته راغلم اوپوښتنه می وکوله چې ته دکوم شئ بلنه ورکوی نبی کریم ﷺ وفرمایل دالله ﷻ دیووالی اودخپل رسول کیدوشاهدی ته تاسورابولم ماوویل ، اشهدان الااله الاالله واشهدان محمدرسول الله ، اخرجه ابن ابی الدنیا وابن عساکر خصائص کبری جلد ۱ صفحه ۱۲۲)

دخالد بن سعیدبن العاص رضی الله عنه اسلام راوړل

له سابقین اولین څخه دې څلورم یاپنځم مسلمان دی (۱) داسلام څخه مخکې یې داخوب ولیدی چې دیوډیر ژور خندق پرغاړه باندی ولاړیم زماپلار ماهغه خواته د ټیله کولو اراده لری ناڅاپه رسول الله ﷺ تشریف راوړی اوزه یې دشاه لخواټینګ کرم راوې کښلم کله چې له خوبه راویښ سوم قسم می وکوی اوومی وویل والله داخوب حق دی وابوبکر صدیق ﷺ ته ورغلم اوخوب می ورته بیان کی ابوبکر صدیق ﷺ وویل الله ﷻ تاته د خیر اراده کړی محمد ﷺ دالله ﷻ رسول ﷺ دی اودده مبارک پیروی وکړه اواسلام ومنه اوان شاء الله ته به درسول الله ﷺ پیروی کوی اوپه اسلام کې به داخلیږی اواسلام به تا داورله غورزیدوساتی مګر ستاپلارورته غورزیدونکی معلومیږی بیازه درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضر سوم اوپوښتنه می وکوله اې محمد ﷺ ته دکوم شئ بلنه ورکوی نبی کریم ﷺ وفرمایل : ادعوک الی الله وحده لاشریک له وان محمداً عبده ورسوله تخلع (۲) ماکنت علیه من عبادة حجر لایضر ولاینفع ولایدری من عبده ممن لم یعبده)

ژباړه : زه تادالله ﷻ خواته رابولم چې هغه یودی هیڅ څوک دهغه سره شیرک نسته اومحمد ﷺ دالله ﷻ بنده اورسول دی اوددې خبری بلنه درکوم چې دبتانوعبادت پریږده چې هغه دکڼی اوتاوان مالکان نه دی اونه دوئ پوهیږی چې څوک ددوئ عبادت کوی اوڅوک یې نه کوی .

خالد ﷺ وایې چې ماعرض وکی چې زه شاهدی ورکوم چې الله ﷻ یودی اوته دالله ﷻ حق رسول یې اوپه اسلام کې داخل سو م زماپلارچې کله خبرسونوزه یې دومره ووهلم چې سرمې زخمی سو اویوه څښته یې زماپرسرباندی ماته کړه وروسته یې راته وویل چې تا

---

(۱) الاصابة جلد ۱ صفحه ۴۰۶)

(۲) دتوحید اورسالت له اقرارکولو وروسته دکفر اوشرک څخه دبیزاری حکم ورکول داله کفر څخه وبیزاری ته اشاره دی له کفر څخه بیزاری دایمان لپاره شرط دی دابیان به درته راسی انشاء الله تعالی ..منه عفی عنه

سيف لودين كتابتون

دمحمد ﷺ خبره منلې هغه دټول قوم خلاف كاركوي اوزموږ خدايانوته بدرد وايي او زموږ پلرواونيكه ګانو ته احمقان اوجاهلان وايي. خالد ﷺ وايي ماخپل پلارته وويل والله محمد ﷺ بيخې رښتياوايي ، پلارته مي نوره غصه هم ورغله اوماته يې ښكنځل اوبدرد وويل اوراته وې ويل اې ذليل زماله مخه ليرې سه والله زه به ستاخوراک څيښاک پرتابندكړم ماوويل كه ته زماخوراک بند كې نوالله ﷻ به ماته روزي راكوي ، په دې باندې زه پلاردخپل كور څخه وشړلم اوزماوروڼوته يې وويل چې له ده سره به هيڅوک خبرې نه كوي اوكه چاله ده سره خبرې وكولې دهغه سره به هم همدغه معامله كوم خالد ﷺ دخپل پلار دروازه پريښوده اودرسول الله ﷺ پردولت منده دروازه پريوتى نبي كريم ﷺ به دخالد ﷺ ډير عزت كوی (۱) اوحافظ عسقلانی هم په اصابه كې داپيښه مختصره ذكركړې ده انسان چې دچادروازه پريږدي ذليل اورسواكيږي ، نه مګر دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ دروازه چې پريږدي هيڅكله عزت نه سې پيداكولاى :

{ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لا يَعْلَمُونَ } [المنافقون: آيت ۸]

ددې آيت څخه ښكاره معلوميږي چې عزت خوپه ايمان كې دی په كفركې يوائې ذلت اورسوايي دی دعزت امكان هم نسته) عزيزی كه ازدر ګهش سر بتافت::: بهر در كه شد هيچ عزت نه يافت (سعدی)

خالد ﷺ فرمايي : چې زماپلار ريوځل ناروغه سو ده وويل كه الله ﷻ زه له دې ناروغۍ جوړكړم نوپه مكه كې به دهغه خداى عبادت ته خلق نه پريږدم دچاپه عبادت چې محمد ﷺ حكم كوی ، خالدوايي چې مادالله ﷻ څخه دادعاوغوښتله چې اې الله ﷻ زماپلارته له دې ناروغۍ دپورته كيدوتوان مه وركوی په همدغه مرض كې زماپلارمړسو (۲)

عثمان بن عفان رضی الله تعالى عنه اسلام راوړل

عثمان غنی ﷺ فرمايي : چې زه يوه ورځ كورته راغلم زماخاله سعدى زماله ميرمنې سره ناسته وه زماخاله چې زه وليدم داشعرونه يې وويل :

أَبْشِرْ وحُيِّتَ ثَلَاثًا وِتْرًا .... ثُمَّ ثَلَاثًا وَثَلَاثًا أُخْرَى

اې عثمان خوشاله سه اوته روغ رمټ يې ..درې ځله اوبيادرې ځله اوبيادرې ځله ..

ثُمَّ بِأُخْرَى لِكَىْ تُتِمَّ عَشْرًا .... لَقِيتَ خَيْرًا وَوُقِيتَ شَرًّا

اويوځل ددې دپاره چې لس پوره سی ته دې له خيرسره ملګری سی اوله شره دې خوندی سی

نَكَحْتَ وَاللهِ حَصَانًا زَهْرًا .... وَأَنْتَ بِكْرٌ وَ لَقِيتَ بِكْرًا

قسم په الله ﷻ تاله ډيرې پاک لمنی اوښايسته ښځې سره نكاح كړې دی ته په خپله هم پاک اواده دې هم له پاكې سره دی

---

(۱) المستدرک جلد ۳ صفحه ۲۸۴) ———— (۲) المستدرک جلد ۳ صفحه ۲۴۹)

سیف لودین کتابتون

ددې اشعاروپه اوریدوسره زه ډیر حیران سوم ماوویل اې خاله څه وایې سعدی نور شعرونه راته وویل :

عُثْمَانُ یَاعُثْمَانُ یَا عُثْمَانُ ....لَکَ الْجَمَالُ وَلَکَ الشَّأْنُ

اې عثمان اې عثمان ،،، ستاد پاره ښائست هم دی او ستالپاره عزت هم دی

هَذَا نَبِیٌّ مَعَهُ الْبُرْهَانُ ....اَرْسَلَهُ بِحَقِّهِ الدَّیَّانُ

دانبی دی اوله ده سره دنبوت اورسالت دلیلونه هم سته ، دبدلی ورکولو مالک په حقه رالیږلی دی ..

وَجَاءَهُ التَّنْزِیْلُ وَالْفُرْقَانُ ....فَاتَّبِعْهُ لَاتَغْیَابِکَ الْاَوْثَانُ

پرده باندی دالله ﷻ کلام نازلیږی ،هغه چی دحق اوباطل په مینځ کې بیلوالی راولی نوته دده پیروی وکړه هسی نه چی بتان دی بیلاری کی ..

ماوویل چی اې خاله ته دداسی شئ یادونه کوی چی ماپه ښارکې دهغه هیڅ نوم هم نه دی اوریدلی هیڅ می په فکرکې نه راځی وروسته سعدی راته وویل :

محمدبن عبدالله رسول من عندالله جاء تنزیل الله یدعوالی الله قوله صلاح ودینه فلاح وامره نجاح

ماینفع الصیاح لو وقع الرماح وسلت الصفاح ومدت الرماح ..

محمد ﷺ دعبدالله زوی دالله ﷻ رسول دی دالله ﷻ ولوری ته بلنه ور کوی دهغه خبره سراسرکامیابه دی اودهغه حال کامیاب دی دهغه په مقابله کې دهیچا اوازونه اوچیغی فایده نه کوی که څه هم هرڅومره توری اونیزی دهغه په مقابله کې وچلیږی ..

دایې وویل او ولاړه ،ددې خبروزماپرزړه ډیر تاثیروکوی زه په چورتو او خیالاتوکې ورک سوم له ابوبکرصدیق ؓ سره زماړیکی وی هغه ته ورغلم کښیښستم ابوبکر ؓ زه چورتمن ولیدم پوښتنه یې وکوله ولی داسی خفه غوندی یې مادخپلی خاله سعدی بیان ټکی په ټکی ورته وکې ابوبکرصدیق ؓ وویل اې عثمان ماشاء الله ته هوښیار اوپوه سړی یې دحق اوباطل بیلوالی کولای سی ، ستاپه ځیر خلکوته په حق اوباطل کې هیڅ شک نه سی کیدای ، دابت څه شئ دی دهغه په عبادت چی زموږ قوم اخته دی آیادابتان ړانده اوکاڼه نه دی نه څه اوری اونه څه وینی اونه چاته ګټه رسولای سی اونه زیان عثمان غنی ؓ وایې ماوویل قسم په الله ﷻ بیشکه همداسی دی لکه څنګه چی ته وایې په دې باندی ابوبکرصدیق ؓ وویل والله چی ستاخاله بیخی رښتیاویلی دی محمد ﷺ بن عبدالله دالله ﷻ رالیږل سوی رسول دی ته که مناسب ګڼی نو دهغه په خدمت کې حاضرسه دهغه خبری واوره ماوده داخبری سره کولی چی ناڅاپه رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ خواته راښکاره سو او علی ؓ هم ورسره ملګری وو اویو ټوکر دهغه په لاس کې وو

هغه چې موږ ولیدو پښ یې په غور مبارک کې څه ورته وویل ، نبی کریم ﷺ راغلی او کینستی او عثمان رضی الله عنه ته مخامخ سوو رته وې فرمایل ، اې عثمان رضی الله عنه الله جل جلاله د جنت بلنه درکوی نو ته دالله جل جلاله بلنه قبوله کړه ، او زه دالله جل جلاله رسول یم چې تاته او ټول مخلوق ته رالیږل سوی یم ، عثمان رضی الله عنه فرمایي : فوالله ماتمالکت حین سمعت قوله ان اسلمت واشهدت ان لا اله الاالله وحده لاشریک له وان محمدا عبده ورسوله .. قسم په الله جل جلاله د نبی کریم ﷺ د خبرو په اوریدو سره داسی بی اختیاره سوم چی سمدستی می اسلام راوړی او دا کلمه می پر ژبه جاری سوه ، اشهدان لااله الاالله وحده لاشریک له وان محمداً عبده ورسوله.

څو ورځي لانه وی تیری سوی چی د رسول الله ﷺ لور رقیه رضی الله عنها زما په نکاح کې سوه او ټولو دې واده ته په ښه سترګه کتل او زما خاله سعدی په دې اړه دا شعرونه وویل :

هَدَى اللهُ عُثْمَانَ الصَّفِيَّ بِقَوْلِهِ .... فَأَرْشَدَهُ وَاللهُ يَهْدِىْ اِلَى الْحَق

الله جل جلاله خپل بنده عثمان ته لارو ښوده .. او الله جل جلاله د حق لار ښودنه کوی

فَتَابَعَ بِالرَأْىِ السَّدِيْدِ مُحَمَّدًا .... وَكَانَ ابْنَ اَرْوَى لَا يَصُدُّ عَنِ الْحَق

عثمان په خپله سمه رایه د محمد ﷺ پیروی وکړه او آخر د اَروَی زوی له فکر او چورت یعنی پوهی څخه کار واخیستی او له حق څخه یې مخ نه واړوی اروی بنت کریز د عثمان رضی الله عنه د مور نوم دی

وَاَنْكَحَهُ الْمَبْعُوْثُ اِحْدَى بَنَاتِهِ .... فَكَانَ كَبَدْرٍ مَازِجَ الشَّمْسَ فِى الْاُفُق

او هغه رښتینی پیغمبر ﷺ خپله یوه لور دته په نکاح کړه ، نو دا یو ځای کیدل داسی سو لکه لمر چی له سپوږمی سره په کنارو کې یو ځای سی .

فِدَى لَكَ يَاابْنَ الهَاشِمِيِّيْنَ مُهْجَتِى .... فَأَنْتَ اَمِيْنُ اللهِ اُرْسِلْتَ لِلْخَلْقِ

زما روح دې تر تا قربان وی ته دالله جل جلاله آمین یې د مخلوق د پاره رالیږل سوی یې (۱)

د عثمان بن عفان رضی الله عنه د اسلام راوړلو څخه وروسته په دویمه ورځ ابوبکر صدیق رضی الله عنه عثمان غنی رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ په خدمت کې له ځان سره حاضر کی .

عثمان بن مظعون رضی الله عنه (۲) ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه (۳) عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ابو سلمة

---

(۱) الاصابه جلد ۱ صفحه ۳۲۷)

(۲) عثمان بن مظعون رضی الله عنه د جاهلیت په وخت کې شراب نه چیښل ده به ویل چی زه به هیڅ کله شراب نه څیښم څکه عقل خرابوی او ژوند ډیر لږ دی او زه و چاته دا وخت نه ورکوم چی شراب په ما باندی څوک وخندوی او په ناخبری کې د خپلی لور نکاح له داسی سړی سره وکوم چی زه نه غواړم د خپلی لور نکاح له هغه وکړم کله چی د شراب د حرام والی په هکله د سورت مائده آیت نازل سو نو یو سړی راغلی هغه آیت یې ورته تلاوت کی نو ده وویل الله جل جلاله دې دا شراب ورک کی زما رایه خو مخکې هم په دې هکله په بصیرت وه (طبقات ابن سعد جلد ۳ صفحه ۲۸۶)

(۳) د ابوعبیده رضی الله عنه اصلی نوم عامر دی او ابوعبیده رضی الله عنه یې کنیه دی او آمین یې لقب دی د سابقین اولین او عشره مبشره څخه دی ، دوه ځلی یې هجرت کړی دی ، اول ځل حبشه ته ولاړی دویم ځلی مدینی منوری ته په ټولو غزاګانو کې شریک سوی دی د عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت په وخت کې د شام د فوځ مشر قمندان وو د طاعون په مرض په کال ۱۸ هجری کې په شام کې وفات سو عمر فاروق رضی الله عنه د خپل خلافت په وخت کی ویل که ابوعبیده رضی الله عنه ژوندی وای ما هغه خلیفه ټاکی)

سیف لودین کتابتون

بن عبدالاسد رضی الله عنه ارقم بن ابی الارقم رضی الله عنه دوئ ټول په یوه مجلس کې په اسلام مشرف سو (الریاض النضرة جلد ١ صفحه ٨٥) دیزید بن رومان څخه روایت دی چی عثمان بن عوف رضی الله عنه اوابوسلمة رضی الله عنه (١) بن عبدالاسد ټول پریوه ځای دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو نبی کریم ﷺ داهلام بلنه ورکړه اوداسلام له احکامویې خبر کړل په یووخت کې ټولو اسلا م ومنی اودوئ ټولو په دار ارقم کې له پناه اخیستلو مخکې اسلام راوړی دی (٢)

دعمار بن یاسر او صهیب رضی الله عنهما اسلام راوړل

عماربن یاسر رضی الله عنه فرمایې : چی ددارالاقم په دروازه باندی زمادصهیب بن سنان رضی الله عنه سره ملاقات وسو اورسول الله ﷺ دننه ناست وو مادصهیب رضی الله عنه څخه پوښتنه وکوله څه اراده لری صهیب رضی الله عنه راته ویل چی ستاڅه نیت ماورته ویل چی زمانیت ووچی تاته درسم ستاخبره واورم موږ دواړه دار ارقم ته داخل سو نبی کریم ﷺ وموږ ته اسلام وړاندی کی موږ په همدغه ځای کې په اسلام مشرف سو (٣)

دعمرو بن عبسة رضی الله عنه اسلام راوړل

عمرو بن عبسه رضی الله عنه وایې زه له ډیره وخته دبتانو له عبادته متنفر او بیزاره وم اودامی یقین وو چی دابتان نه دکومی گټی اونه دزیان وس لری هسی بی معنی کانی دی ماداهل کتاب دعلماؤ له یوعالم سره ملاقت وسو اوداپوښتنه مې ځنی وکوله چی ترټولو ښه اوغوره کوم دین دی ، هغه عالم وویل چی یوسړی به په مکه کې راښکاره کیږی دبت دعباد ت کولو څخه به خلک دالله ﷻ توحیدته رابولی اوترټولوبهترین اوغوره دین هغه دین دی ته که دهغه په وخت کې ژوندی وی نوخامخادهغه پیروی وکړه عمروبن عبسه رضی الله عنه وایې له هغه وخت به مادمکی چورتونه وهل اوهغه خبره مې یاده وه له هرتلونکی او را تلونکی څخه می دمکی دحالاتوپوښتنه کوله ترڅوچی ماته درسول الله ﷺ خبرراورسید ی داروایت معجم طبرانی اوپه دلائل ابی نعیم کې ذکرسوی دی عمرو بن عبسه رضی الله عنه وایې درسول الله ﷺ دخبرپه اوریدوو سره زه سمدستی مکی مکرمی ته راغلم اوپه پټه مې درسول الله ﷺ سره ملاقت وسو اوپوښتنه مې وکړه چی ته څوک یې رسول الله ﷺ وفرمایل زه دالله ﷻ نبی یم ، ماورته وویل ته رالیږل سوی یې ،رسول الله ﷺ وفرمایل هو ، ماورته ویل ته په کوم پیغام رالیږل سوی یې ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل الله ﷻ یو دی دهغه هیڅ شریک نسته ، بتان دې مات کړل سی ، اوصله رحمی کوی ، ماپوښتنه وکوله په دې کارکې له تاسره څوک ملگری دی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل یوآزاد اویومریئ یعنی

---

(١) ابوسلمه رضی الله عنه دنبی کریم ﷺ رضاعی وړور اودسلمه رضی الله عنها لومړی خاوند دی)
(٢) طبقات ابن سعد جلد ٣ صفحه ٢٨٦)
(٣) طبقات ابن سعدجلد ٣ صفحه ٢١٢)

سيف لودين كتابتون

ابو بکر صدیق ؓ او بلال ؓ ماورته ویل زه هم ستا پیروی کوم ستا سره به ملګری یم نبی کریم ﷺ وفرمایل اوس ته خپل وطن ته ولاړ سه کله چی زما په غلبه باندی خبر سوی نو هغه وخت بیا راسه عمرو بن عبسه ؓ فرمایي : زه مسلمان سوم او وطن ته بیرته ولاړم او د نبی کریم ﷺ دحال پوښتنه به مې کوله کله چی نبی کریم ﷺ هجرت وکی او مدینی منوری ته ولاړی نو زه هم دده مبارک په خذمت کې حاضر سوم او عرض مې وکی یا رسول الله ﷺ تازه وپیژندلم نبی کریم ﷺ وویل هو ته هغه څوک یې چی په مکه کې ماته راغلی وی ما وویل هو اې دالله ﷻ رسول زه هغه یم ، ماته څه راوښیه ، الی اخر الحدیث پوره حدیث په مسند احمد کې ذکر سوی دی او داحدیث په صحیح مسلم کې هم ذکر سوی دی (١)

دابوذر غفاری رضی الله تعالی عنه اسلام راوړل

له ابن عباس ؓ څخه روایت دی چی ابوذر غفاری ؓ ته چی کله درسول الله ﷺ دبعثت خبر ورسیدی نو خپل ورور انیس (٢) ته یې وویل چی ته مکی ته ولاړ سه دهغه سړی خبر راوړه چی دعوی کوی چی زه دالله ﷻ نبی یم اوله اسمانه په ماباندی وحی نازلیږی ، دهغه خبری هم واوره ، دابوذر ؓ له لارښوونی سره سم انیس مکی ته راغلی او د نبی کریم ﷺ سره یې ملاقات سو او بیرته ولاړی ابوذر ؓ پوښتنه ځنی وکوله ، څه خبر دې راوړی انیس وویل زه چی کله مکی ته داخل سوم نو چا هغه ته کاذب دروغجن او جادوګر ویل او چا ورته کاهن او شاعر ویل قسم په الله ﷻ هغه نه شاعر وو او نه کاهن انیس په خپله هم ډیر لوی شاعر وو څکه نو موړی وایې ما د کاهنانو خبری اوریدلی دی دده خبری د کاهنانو له خبرو سره مشابه هم نه وی او دده خبری مې دشعر په اوزانو کې وتللی پریوه وزن هم نه برابریدی شعر نه وو قسم په الله ﷻ هغه بیخی رښتینی او صادق وو انیس وروسته وویل

رأيته يأمر بالخير وينهى عن الشر ورأيته يأمر بمكارم الاخلاق وسمعت منه كلاما ماهو بالشعر

داسړی ما یوائې دخیر او نیکۍ حکم کونکی او دشر او بدۍ څخه منع کونکي ولیدی او د ښو اخلاقو حکم کونکي او له هغه می داسی کلام واوریدی چی له شعر سره یې هیڅ تړاو نه درلودی .

ابوذر ؓ دانیس خبری واوریدی خو پوره ډاډمن نه سو غالباً به ابوذر ؓ دهغه حالات او پیښی په پوره تفصیل سره غوښتی دومره لنډی خبری دهغه دپاره بس نه وی په دې وجه ابوذر ؓ په خپله څه توښه او داوبو فتک له ځان سره واخیستل مکی ته روان سو په مکه کې دعلی ؓ له لاری نبی کریم ﷺ ته ورسیدی او د نبی کریم ﷺ خبری یې واوریدی په هغه ځای یې اسلام راوړی ، ابوذر غفاری ؓ

---

(١) الاصابه جلد ٣ صفحه ٦

(٢) انیس ؓ په عمر کې تر ابوذر ؓ مشر وو (اصابه جلد ١ صفحه ٧٦)

له اسلام راوړلووروسته حرم ته راغلی اواعلان يې وکی ، کفاررودومره ووهی چی پر ځمکه ولويدی عباس ﷛ راغلی اوله دوئ څخه يې خلاص کی رسول الله ﷺ ورته وفرما يل خپل قوم ته ولاړسه اوهغوئ ته هم داسلام بلنه ورکړه کله چی زمادښکاره کيدو او غلبې خبر واوری نوهغه وخت بياراسه ،ابوذر ﷛ بيرته ولاړی دواړوورونو پر يوه ځای خپلی مورته داسلام بلنه ورکه موريې په ډيره مينه اوخوشالی سره ومنله وروسته يې خپلی قبيلی غفار ته بلنه ورکړه نيمه قبيله په هغه وخت کې په اسلام مشرف سوه (١)

فايده :دعمروبن عبسه ﷛ اوابوذر ﷛ له قصوداښکاريږی چی رسول الله ﷺ ته دالهی دين دغلبې پوره يقين حاصل وو اوپه داسی بيوسی کې دايقين بيله وحی الهی څخه ممکن نه دی

په دارالارقم کې دمسلمانانو اوسيدل !

کله چی دغه رنګ خلک په اسلام کې په ورو ورو داخليدل ، دمسلمانانو يو کوچنی ټولۍ جوړسو نودارقم (٢) ﷛ سرای ديوځای کيدولپاره وټاکل سو چی هلته به ټول صحابه کرام ﷡ سره يوځای کيږی، ارقم ﷛ له سابقين اولين څخه دی اوم يالسم مسلمان دی دصفاپرغونډۍ باندی دده کوروو

دعمرفاروق ﷛داسلام ترراوړلوپوری رسول الله ﷺ اوصحابه کرام ﷡ به هلته يوځای کيدل دعمرفاروق ﷛داسلام راوړلووروسته چيری به يې غوښتل (٣)هلته به يوځای کيدل

په ښکاره داسلام بلنه درې کاله وروسته پيل سوه کله چی عمرفاروق ﵁ اسلام ومنی

دررې کالوپوری رسول الله ﷺ په پټه باندی داسلام بلنه ورکوله اودغه رقم خلک په ورو وروپه اسلام کې داخليدل درې کالووروسته داحکم نازل سو چی ښکاره خلک واسلام ته راوبوله .. الله عزوجل فرمايي :

﴿فَاصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَاَعۡرِضۡ عَنِ الۡمُشۡرِكِيۡنَ﴾٩٤آيت سورة الحجر) ﴿وَاَنۡذِرۡ عَشِيۡرَتَكَ الۡاَقۡرَبِيۡنَ﴾(٢١٤) ﴿وَاخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ﴾(٢١٥آيت سورة الشعراء) ﴿وَقُلۡ اِنِّىۡۤ اَنَا النَّذِيۡرُ الۡمُبِيۡنُ﴾٨٩آيت سورة الحجر)

دکومی خبری چی تاته حکم سوی دی هغه ښکاره اوپه ډاګه اعلان که اودمشرکينو هيڅ باک مه کوه اوترټولومخکې خپل نژدی خپلوان دکفر اوشرک څخه وويره وه اوځوک چی ايمان راوړی اوستاپيروی وکوی له هغه سره نرمی اوشفقت کوه اودااعلان وکوه چی زه ښکاره ويروونکې يم ..

رسول الله ﷺ دصفاغونډۍ ته وختی اودقريشو هره قبيله يې په جلاجلانامه سره راوبلل

---

(١)الاصابه جلد٢ صفحه ٦٢)

(٢) ارقم ﷛ دبدر اواحد په غزاګانو کې ګډون کړی دی اودمعاويه ﷛ دخلافت په وخت کې وفات سوی دی (اصابه جلد١

سیف لودین کتابتون

قريش ټول راټول شول او ورته وليدل او رسول الله ﷺ هغوی ته وفرمايل چي که زه تاسو ته دا خبر درکړم چي دده غره تر شا يو لښکر دی او پر تاسو حمله کوي نو آيا تاسو به زما داخبره ومنی ټولو په يوه خوله وويل بيشکه موږ له تاڅخه پرته له رښتيا بل څه نه دي اوريدلي نبی کريم ﷺ وفرمايل زه تاسو له ډير سخت او دردناک عذاب څخه ويروم ابولهب وويل ته دي هلاک سي تا موږ ددې خبری دپاره راجمع کړي يو ،دابولهب دوينا په ردکې تبت يدا ابی لهب وتب سورة نازل سو (بخاری)

دخپلو خپلوانو رابلل و اسلام ته

دحضرت علی کرم الله وجهه څخه روايت دی چي کله دآيت نازل سو ﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾(۲۱۴) سورة الشعراء) نژدی خپل خپلوان وبيروه ،رسول الله ﷺ ماته حکم وکی چي يوه کاسه او ړه پاخه که او دبزی يو وزر او دشيدو يوه پياله تياره که او دمطلب دکورنی ټول غړی راوغواړه ما دهغه دالارښوونه عملی که زيات کم څلويښت کسان راټول سول چي په هغو کې درسول الله ﷺ آکاګان ابوطالب او حمزه رضی الله عنه او عباس رضی الله عنه او ابولهب هم شامل وو ما دهغې غوښی يوه ټوټه راواخيسته نبی کريم ﷺ په غاښو مبارکو غوڅه کړه او بيرته مې په هغه پياله کې کيښوده نبی کريم ﷺ وفرمايل دالله ﷻ نوم واخله او وي خوره او وروسته يې نوروته ورکه ټولو وخوړه او ښه په ماړه سو او څه پاته هم سوه سره له دې چي هغه يو اځي ديوه سړی خوراک وو خو ټول په ماړه سو او وروسته يې ماته وويل چي دشيدو پياله راواخله او په خلکو يې وڅښه خلکو وڅښلې او ټول ښه په ماړه سو سره له دې دا يوه پياله شيدې خو يوه سړي هم څښلای سوای دنبی کريم ﷺ خپل خپلوان چي کله ډوډۍ وخوړه نو رسو ل الله ﷺ دڅه ويلو اراده وکړه خو ابولهب وويل اې خلکو پورته سی محمد ﷺ نن ستاسو پر خوراک باندی جادو کړی دی داسی جادو خو هيڅکله نه دې ليدل سوی ،دابولهب په خبره ټول خلک ولاړ سو او رسو ل الله ﷺ دخبرو نوبت نه ورغلی په بله ورځ بيا نبی کريم ﷺ وعلی رضی الله عنه ته دتير خوراک په څير دخوراک تيارولو امرو کي دغه رنګه بيا ټول سره راټول سو کله چي له خوراک څخه خلاص سو نو نبی کريم ﷺ وفرمايل : چي کوم شئ چي ماتاسو ته وړاندی کی هيڅ اهم تردي ښه شئ خپل قوم ته نه دی وړاندی کړی ما تاسو ته ددنيا او آخرت خير راوړی دی (اخرجه ابن اسحق والبيهقی وابونعيم ، الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۱۲۳)

ابولهب که څه هم په خپلوی کې درسول الله ﷺ آکا وو مګر څنګه چي په تصديق او قربانی او صداقت او مينه کې ابوبکر صديق رضی الله عنه تر ټولو مخکې وو دغه رنګه په تکذيب او ضرر رسولو او پسخند وهلو او بغض او دښمنی کې ابولهب تر ټولو مخکې وو ، سخط الله عليه ،

سیف لودین کتابتون

دنبی کریم ﷺ دوې لوڼی مبارکی رقیه رضی الله عنها اوام کلثوم رضی الله عنها چی تربعثت مخکې دابولهب زامنوعتبه اوعتیبه ته په نکاح سوی وی ابولهب ددیری دښمنی په وجه په خپلوزامنوپه زورطلاق ورکړددې لپاره چی په دې سره نبی کریم ﷺ ته تکلیف ورسیږی مګرپه حقیقت کې دادالله جل جلاله یوډیر لوی رحمت وو ځکه ورروسته دواړی دعثمان رضی الله عنه په نکاح کې سوی دیوی له مرګ ورروسته یې دویمه په نکاح کړه، اوعثمان رضی الله عنه ددوئ په وجه د ذی النورین لقب سره ونومول سو ، دیولاک څلیرویشت زره انبیاء اورسولانو علیهم السلام له ملګروڅخه یواځی عثمان رضی الله عنه داسی صحابی دی چی دده په نکاح کې دنبی ﷺ دوې لوڼی راغلی وی یوه له بلی ورروسته په نکاح کړه اوذی النورین هم ددوئ په وجه ورته ویل سوی دی .

ترڅه وخته چی نبی کریم ﷺ خلکوته یواځی داسلام بلنه ورکوله ترهغه وخته قریشوپرنبی کریم ﷺ هیڅ تعرض نه دی کړی مګر کله چی نبی کریم ﷺ په ښکاره ذبتانو بدي بیانول شروع کړه اودکفر اوشرک څخه یې دوئ منع کړه نوقریشو هم په دښمنی اومخالفت پیل وکي یواځی ابوطالب دنبی کریم ﷺ مرستندوئ اوکومک کونکي پاته سو

یوځل دقریشوڅوتنه راټول سودابوطالب کورته ورغله چی ستاورارہ زموږ بتانوته بد وا یې اوزموږ دین ته بدوایې اوموږته بی عقلان اوناپوهان وایې اوزموږ پلرو اونیکه ګانو ته بیلاری وایې ته یامحمد ﷺ منع که اویازموږ اودده په مینځ کې مه راځه موږ په خپله ورسره پوهیږو ابوطالب دوئ په ډیره ښه طریقه اونرموخبرورخصت کړل اورسول الله ﷺ دتوحیدپه دعوت اودشرک په بدۍ بیانولو کې بوخت وو ،

دابولهب اودده دملګرودبغض اودښمني داورلمبی نوری تازه سوی ځکه دقریشو یوه بله ټولۍ دوهم ځل بیاابوطالب ته راغله ورته وې ویل چی ستاعزت اوستامشری موږ منو مګر موږ دخپلومعبودانو په بدویلو اوپلارنیکه ته په ناپوه ویولوباندی هیڅ صبر نه سوکو لا ی ته خپل وراره منع که که داسی ونه کي جنګ به جوړسی زموږ څخه به یوه نه یوه قبیله خامخا هلاکیږی دوئ داخبره وکړه اوولاړل، په ابوطالب باندی دکورنۍ اوټول قوم دمخالفت اودښمنی اثرولویدی کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم راغلی نوابوطالب ورته وویل اې وراره ستادقوم خلک ماته راغلی وودوئ داسی ویل اوولاړل له دې وجی ته پرما هم رحم وکوه اوپرخپل ځان باندی هم رحم وکوه ، اوپه ماباندی داسی بارمه ایږده چی زه یې دوړلوتوان نه لرم ، دابوطالب له خبروڅخه نبی کریم ﷺ ته دافکر پیداسوچی کیدای سی ابوطالب زماله مرستی اوساتنی څخه پرشاکیدل غواړی نونبی کریم ﷺ په همدې وخت کې په ډکوسترګواوغمجن زړه وویل اې آکا قسم په الله جل جلاله که داخلک زمایه ښي لاس کې لمر اوچپه لاس کې سپوږمۍ کښیږدی اودوئ وایې چی

مړسوی نه یم داخبره یې وکړه وې ژړل اوولاړسو ولاړی ابو طالب له شاوړپسی بږغ کړور ته وې ویل اې وراره ته چی څه غواړی هغه کوه زه تا هیڅکله دښمنانو ته نه سپارم (۱)

باریکي : په دنیاکې خوترلمر اوسپوږمۍ ډیر روښانه اورڼاکونکي شئ نسته خو دمؤمنانو په نزد هغه رڼا چی محمد رسول الله ﷺ دنیاته راوړی دی هغه ترلمر اوسپوږمۍ هم ډیره روښانه رڼادی مشرکین غواړی چی دارڼامړه کي لکه چی الله تعالی فرمایلی دی

: يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ (۳۲) سورة توبه)

دوئ غواړی چی دالله تعالی نور په خپلو خولو مړکی اوالله تعالی خپل نور په خپله پوره کوی که څه هم دکافرانو نه خوښیږی .

کوم نورمبین چی ماراوړی دی وهغه ته دلمر اوسپوږمۍ هیڅ حیثیت نسته دلمراوسپوږمی نسبت له دې نور سره داسی هم نه دی لکه دیوی وړانګی له لمرسره اوزه ستاسو ناپوهانو په خبره دالوړ نورپریږدم اوکوچنی رڼاڅنګه غوره کړم (أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَى بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ (۶۱) سورة بقرة)

لکه څنګه چی راسته لاس په نسبت وچپه لاس ته ښه اوغوره دی دغه رنګه لمر هم ترسپوږمی ډیر لوړاوغوره دی ځکه نبی کریم ﷺ افصح العرب والعجم ﷺ دلمرپه ښي لاس اوسپوږمی په چپه لاس کې ایښودلو سره بیان وکي (۲)

رسول الله ﷺ په ښکاره دکفر اوشرک څخه منع اودبتانو اوددوئ دمعبودانو اودالله ﷻ له دښمنانو سره دسختی دښمنی اومخالفت اودرسول الله ﷺ اودهغه دملګروصبرددې خبری ښکاره دلیل دی چی دایمان اواسلام لپاره یوائی دزړه باور یاپه ژبه منل کافی نه دی بلکې دکفراوکافرانو اودشرک له خویو اولوازمو څخه بیزاری هم لازمی اوضروری دی (تولابی تبرا ممکن نیست) په همدې ځای کې صادقیږی ،

الله عزوجل فرمایي :

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ (۵) سورة ممتحنه) فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ (۱۱۴) سورة توبه)

رښتیا هم ستاسو لپاره په ابراهیم ؑ اودهغه په ملګروکې یوه ښه نمونه دی پرتاسولازم

---

(۱) البدایه والنهایة جلد ۳ صفحه ۴۷)

(۲) خص الشمس بالیمین لانها الایة المبصرة وخص القمر بالشمال لانها الایة الممحوة وقد قال عمر ؓ قال له الرجل رأیت فی المنام کان الشمس والقمریقتتلان ومع کل واحد منهما نجوم فقال عمر ؓ مع ایهما کنت فقال مع القمر قال کنت مع الایة الممحوة اذهب فلاتعمل لی عملا وکاملاله فعزله فقتل الرجل فی صفین مع معاویه واسمه عابس بن سعد (روض الانف جلد ۱ صفحه ۱۷۰)

سیف لودين كتابتون

دی چې دهغې نمونې پیروی وکوی کله چې ابراهیم علیه السلام او دده ملګرو خپل قوم ته ښکاره وویل چې موږ بېرته له الله جل جلاله ستاسو له ټولو معبودانو څخه بیزاره یو موږ په الله جل جلاله ایمان راوړی دی او تاسو دالله جل جلاله څخه منکر او کافران یاست او ښکاره هم زموږ او ستاسو تر منیځ پوره دښمنی او نفرت دی دهمیشه لپاره ترڅو چې تاسو په الله جل جلاله باندی ایمان نه راوړی کله چې ابراهیم علیه السلام ته داخبره ښکاره سوه چې هغه (اذر) دالله جل جلاله دښمن دی نوله هغه څخه بری او بیزاره سو .

له دې آیته ښکاره معلومیږی لکه څنګه چې دمؤمنانو ته دالله جل جلاله او دهغه درسول ﷺ دپیروی حکم سوی دی دغه رنګه دالله جل جلاله له دښمنانو سره دبغض او دښمنی اعلان هم ضروری دی لکه چې نبی کریم ﷺ په کال ۹ نبوی کې علی کرم الله وجهه خاص ددې لپاره ولیږی چې دحج په وخت کې دبرائت اعلان وکوی او دبرائت په هکله دسورت برائت آیتونه نازل سو او په حدیث کې راځی (من احب لله وابغض لله فقد استکمل الایمان) چاچی دالله جل جلاله دپاره محبت وکوی او دالله جل جلاله دپاره یې بغض وساتی نو هغه خپل ایمان کامل کی ، دالله جل جلاله محبت تر هغه وخته نه سی پوره کیدای ترڅو چې دالله جل جلاله له دښمنانو سره بغض او دښمنی پوره نه وی ، دچا په زړه کې چې څومره دالله جل جلاله ددښمنانو ځای وی هغومره دده زړه دالله جل جلاله له محبت څخه خالی وی (مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ(۴) الاحزاب) الله جل جلاله دچا دپاره دوه زړونه نه دی پیداکړی ،او په یوه زړه کې دوه ضدشیان څنګه ځایدای سی، کامل مؤمن هغه دی چې دالله جل جلاله درضا او خوشالی په بدله کې دټولی دنیادناراضه کیدو یوه ذره باک ونه لری . اسخط کل الناس فی ارضائه

دانبیاء علیهم السلام داطریقه دی لکه څنګه چې پر الله عزوجل باندی دایمان او تصدیق بلنه ورکوي دغه رنګه دکفر او شرک او طاغوت دتکذیب او انکار هم حکم کوی لکه چې الله تعالی فرمایې : يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ(۶۰) سورة نساء)

دوئ غواړی چې شیطان ته خپلی مقدمی وړاندی کي او سره له دی دوئ ته حکم سوی دی چې په شیطان به کفر کوی یعنی دهغه حکم به نه منی ،

که موتفصیل په کاروی نو دامام ربانی شیخ مجدد الف ثانی قدس الله سره مکتوبات صفحه ۳۲۵ دفتر اول مکتوب ۲۶۶ وګوري)

قریشو چې کله ولیدل چې ابو طالب درسول الله ﷺ په مرسته او ساتنه باندی ټینګ ولاړی دی نودریم ځل یې بیامشوره سره وکړه او دابو طالب کورته ورغلو ابو طالب ته یې وویل چې دا عمارة بن الوحید دی او دقریشو ډیر ښائسته او بې مثاله هوښیار او یوه ځوان دی ته داواخله او خپل وراره موږ ته په لاس راکه ددې دپاره چې هغه موږ قتل کړو او قوم ته ددې غم څخه نجات ورکړو ، ابو طالب وویل نه داهیڅکله نه سی کیدای داڅنګه کیدای سی چې

سیف لودین کتابتون

زه خپل محبوب وراره تاسو ته دوژلو لپاره وسپارم او ستاسو هلک واخلم او وي پالم او ښه يې وروزم قسم په الله ﷻ داهيڅ کله نه شي کيدای مطعم بن عدي وويل اې ابو طالب قسم په الله ﷻ ستاقوم ښه برابره اودانصاف اوله دې غم څخه دخلاصون ډيره ښه لار درته وښوده ، مګر ته هغه نه منې، ابو طالب وويل قسم په الله ﷻ که زما قوم له ما سره هيڅ انصاف کړی وی ، ستاسو په وس چې څه کیږي هغه وکوی ، قريش چې کله دابو طالب له خوانااميده سو نوپوره مخالفت ته اماده سو اوپه هره قبيله کې چې به کوم بيوسه اوکمزوری مسلمانان وو هغوئ ته يې رنګارنګ تکليفونه ورکول شروع کړه ،

په همدې وخت کې ابو طالب بنو هاشم اوبنی المطلب ته درسول الله ﷺ د مرستی اوساتنی بلنه ورکړه دابو طالب غوښتنی ته دبنی هاشم اوبنی المطلب دکورنی غړولبيک ووايو ، له بنی هاشم څخه يوائې ابولهب له دښمنانوسره ملګر سوی (عيون الاثر)

ربيعه بن عباد ﷺ (۱) فرمايې چې مانبی کريم ﷺ دعکاظ اوذي المجازپه بازاروکې وليدی چې خلکوته يې ويل (ياايهاالناس قولوا لااله الاالله تفلحوا) اې خلکو لااله الله ووايا ست کاميابه به سی اويوبل سپين ږيری سړی مې وليدی چې دده ترشاروان وو اوخلکوته يې ويل : چې داسړی صابی بی دين اودروغجن دی ماله خلکوپوښتنه وکوله چې داڅوک دی خلکو وويل چې دامخکې سړی محمد ﷺ اوترشايې دده آکاابولهب دی داحديث په مسنداحمد اومعجم طبرانی کې ذکرسوی دی (اصابه ترجمه ربيعه بن عباد اوحافظ ابن سيدالناس هم په خپل سندسره داحديث نقل کړی دی په هغه کې نورزيادت هم راغلی وايې چی رسول الله ﷺ خلکوته ويل (۲) : يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَعْبُدُوهُ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا) اې خلکو الله عزوجل تاسوته حکم کوی چې يوائې دهغه عبادت وکوی اودهغه سره هيڅ شريک مه نيسی .

اوابولهب په هغه پسی له شاروان وو دايې ويل :

يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ هَذَا يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَتْرُكُوا دِيْنَ آبَائِكُمْ (عيون الاثر صفحه ۱۰۱)

اې خلکو داسړی تاسوته داامر کوی چې دخپل پلار اونيکه دين پرېږدی ..

په ټولوانسانانوکې غوره بنده نبی کريم ﷺ خواسلام اودارالسلام جنت ته بلنه ورکوله ، اوابولهب وګمراهی اوداورلمبوته بلنه ورکوله

---

(۱) عباد بکسر المهلمة وتخفيف الموحدة الديلمی ويقال فی بيه بالفتح والتثقيل والاول هوالصواب قاله ابن معين وغيره) اصابه)

(۲) الاصابه جلد ۲ صفحه ۵۰۹)

د اسلام د مخنیوي لپاره د قریشو لویه جرګه!

قریشو ولیدل چې د اسلام رڼا ورځ تر بلې زیاتیږي نو د وئ ټول یوه ورځ د ولید بن مغیره په کورکې سره غونډ سوولید په قریشو کې ډیر مخور سپین ږیری وو دوئ ولید ته وویل چې دحج وخت رانژدی او ستا شهرت او یاد و نه هرځای کیږي اوس د کلیو او بانډو خلک راځي او ستا څخه به د محمد ﷺ په اړه پوښتنی کوي له دې وجې باید ټول په یوه خوله سو اختلاف پرېږدو څکه بیا به په خپله موږ یو به د بل تکذیب کوو او دا به ښه نه وي او اې ابو عبد شمس (د ولید کنیت) دی، ته موږ ټولو ته یوه لاره وښیه موږ به ټول په هغې باندی ځو ولید وویل تاسو خپله رایه راته وو ایاست زه به یې اورم چې زما په فکر ښه وه هغه رایه به عملی کړو دوئ وویل موږ به وایو چې دا سړی کاهن دی (معاذالله)، ولید وویل غلط وایاست قسم په الله ﷻ که محمد ﷺ کاهن وی ما کاهنان لیدلی دی نه په ده کې د کاهنانو علامی سته او نه دده خبری د کاهنانو په څیر دی او نه یې آواز له کاهنانو سره مشابه دی دوئ وویل موږ به وایو چې دا سړی لیونی دی، ولید وویل لیونی هم نه دی، څکه د لیونتوب په حقیقت څخه زه خبریم په ده کې د لیونتوب هیڅ علامه نسته. دوئ وویل موږ به وایو چې دا سړی شاعر دی، ولید وویل نه دا هم غلطه رایه ده څکه زه په خپله شاعریم، د شعر ټول اقسام او انواع مثلالکه رجز، هزج، مقبوض، مبسوط، او داسی نور ښه پیژنم د هغه خبری له شعر سره هیڅ مناسبت نه لري. دوئ وویل وایو به چې ساحر دی، ولید وویل جادوګر هم نه دی څکه د جادوګرانو په څیر پوکی او دم نه کوي او نه د جادګرانو په څیر مصنوعی ږیره ایږدی، خلکو وویل اې ابو عبد شمس آخر نو څه ووایو، ولید وویل قسم په الله ﷻ د محمد ﷺ په کلام کې یو عجیب خوند او مزه دی او پرده باندی یو عجب حالت دی او د دی کلام ریښی ټینګی او ښاخونه یې میوه لرونکی دی، (۱) یعنی دین اسلام داسی دی لکه پاکه درخته چې ریښی یې ټینګی او مضبوطی وی او په ځمکه کې ښي کلکی وی او ددې ښاخونه اسمان ته رسیږي او له میوو څخه ډک وی، تاسو چې څه وویل زه ښه پوهیږم چې دا ټول دروغ او باطل دی زما په خیال تر ټولو ښه او مناسبه رایه دا دی چې موږ ټول به وایو چې دا سړی جادوګر دی او دده په خبرو کې هم جادو دی څکه ښځه او میړه پلار او زوی، ورور او وررور، قبیله او قوم سره جلا کوی او دا کار د جادوګری خاصه ده، غونډه پای ته ورسیدی خلک ولاړ سو

---

(۱) او د مستدرک په یوه روایت کې نور زیادت هم سوی دی (وانه لیَعلُو ومایعلی وانه یحطم ماتحته) یعنی دا داسی کلام دی چې خامخا به غالب کیږی مغلوب کیږی نه او دا هر څه ماتوی..

سیف لودین کتابتون

کله چی دحج وخت رانیژدی سو اوخلک له لیری ځایو دحج دپاره راتلل نولو قریشو خپل خلک په لارو کې کېښینول هرلاروی مسافر چی به پردویٔ تیریدی ، نوهغه ته به یې دمحمدرسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه ویل چی داساحر دی له ده څخه ځان ساته مګر قریشوپه دې چل سره اسلام ته هیڅ زیان ونه رسوی بلکې دکلیو اولیری ځایو خلک یې درسول الله ﷺ څخه ښه خبرکړه چی دلته یوڅه خبره سته ، (۱)

علامه زرقانی فرمایې :"داحدیث ابن اسحق اوحاکم اوبیهقی په جیدسندسره روایت کړی دی (۲) الله ﷻ دولید بن مغیرة په هکله دسورت مدثر څوآیتونه نازل کړه :

ذَرۡنِي وَمَنۡ خَلَقۡتُ وَحِيدٗا (١١) وَجَعَلۡتُ لَهُۥ مَالٗا مَّمۡدُودٗا (١٢) وَبَنِينَ شُهُودٗا (١٣) وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمۡهِيدٗا (١٤) ثُمَّ يَطۡمَعُ أَنۡ أَزِيدَ (١٥) كَلَّآۖ إِنَّهُۥ كَانَ لِأٓيَٰتِنَا عَنِيدٗا (١٦) سَأُرۡهِقُهُۥ صَعُودًا (١٧) إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ (١٨) فَقُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ (١٩) ثُمَّ قُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ (٢٠) ثُمَّ نَظَرَ (٢١) ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ (٢٢) ثُمَّ أَدۡبَرَ وَٱسۡتَكۡبَرَ (٢٣) فَقَالَ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ يُؤۡثَرُ (٢٤) إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا قَوۡلُ ٱلۡبَشَرِ (٢٥) سَأُصۡلِيهِ سَقَرَ (٢٦) سورة المدثر)

ته ماپرېږده اوهغه څوک کوم چی مادی یواځی پیداکړی دی یعنی په خپله له هغه څخه بدله اخلم ته فکرمه کوه اوماده ته زامن اوډیر مال ورکړی دی اوداسی زامن می ورکړی دی چی په مجلس کې ناست وی اوددنیادعزت اومشرتوب اسباب مې ورکړی دی بیا طمع لری چی نوربه زیات ورکړم هیڅ کله داسی نه دی هغه ددې وړ نه دی هغه زموږ دآیاتوضداومخالف دی زه به خامخادیٔ په دوزخ کې غره ته پورته خیژوم اوبیابه یې له لوړه ځایه لاندی راغورزوم هغه څه فکر وکی اوپه زړه کې یې څه اندازه وکوله بیادې هلاک سی څنګه اندازه یې وکړه بیایې یوی اوبلی خواته وکتل اوتندی یې تریو کی اوبیایې شاولګوله اوغرور یې وکړ اوبیایې وویل داقرآن نه دی مګرجادودی اوله ډیره وخته داکار راروان دی نه دی داقرآن مګر دیوسړی قول دی الله ﷻ فرمایې نوموړی به خامخاپه اور کې غورزوم ..

اوپه یومرسل روایت کې راغلی دی چی رسول الله ﷺ ولیدته داآیتونه ولوستل

({ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ (٩٠) سورة النحل } داایتونه دښوأخلاقو اوښو اعمالولارښوونه کوی) (۳)

---

(۱) عیون الاثر جلد ۱ صفحه ۱۰۱)
(۲) البدایه و النهایه جلد ۳ صفحه ۶۱)
(۳) البدایه و النهایه جلد ۳ صفحه ۶۱)

سيف لودين کتابتون

دحمزه رضی الله تعالی عنه اسلام راوړل (۱)

یوه ورځ رسول الله ﷺ دصفاغونډۍ وڅنګ ته تیریدی اتفاقاً ابوجهل هم له یوخوا راغلی ، نبی کریم ﷺ چې یې ولیدی ډیر سخت بدرد یې ورته وویل مګر رسول الله ﷺ دابوجهل دناوړه خبرو هیڅ جواب ورنه کی ځکه جواب جاهلان باشد خاموشی) نبی کریم ﷺ ولاړی ، دعبدالله بن جدعان مینځی ټوله پیښه ولیدله ، په همدغه وخت کې حضرت حمزه ؓ له ښکار څخه دغشیواولیندی سره راغلی ، دعبدالله بن جدعان مینځی حضرت حمزه ؓ ولیدی ورته وې ویل اې ابوعماره کاشکی چی ته په هغه وخت کې وای کله چی ابوجهل ستاوراره ته ډیر بداوناوړه الفاظ ویل ،

ددې خبری په اوریدوسره دحمزه ؓ دخپلوی غیرت په جوش کې راغلی،له هغه ځایه دابوجهل په لټون پسی روان سو ، دحمزه ؓ داعادت وو چی کله به له ښکاره راغلی نوترهرځای مخکې به حرم ته راتلی ، ددې عادت مطابق حرم ته ولاړی که ګوری ابوجهل دقریشوپه یوه غونډه کې ناست دی له رسیدوسره سم یې هغه پرسرباندی په لیندۍ داسی په زرو ووهی چی دابوجهل ملعون سرزخمی سو حمزه ؓ ورته وویل تاومحمد ﷺ ته ښکنځل کړی وو ماپه خپله دهغه دین منلی دی دمجلس یوشمیرخلکوغوښتل چی له ابوجهل څخه دفاع وکوی مګر ابوجهل منع کړل ورته وې ویل چی مانن دهغه وراره ته ډیر بد رد ویلی دی حمزه پرخپل حال پریږدی ،

دغونډی خلکوحمزه ؓ ته وویل ، اې حمزه ؓ آیاته هم صابی سوی یې حمزه ؓ وفرمایل ، چی وماته درسول الله ﷺ حقانیت اوربښتینوالی ښه ښکاره سوی دی زه شاهدی ورکوم چی محمد ﷺ دالله ﷻ رسول دی اودئ چی څه وایې هغه حق دی زه به هیڅ کله له ده څخه بیل نه سم ستاسوچی څه په وس پوره وی هغه وکوی حمزه ؓ داخبره وکړه کورته ولاړی ، شیطان په زړه کې وسوسه ور واچوله چی اې حمزه ته خودقریشومشرسړی یې تاددې صابی څنګه پیروی وکړه اودخپل پلار اونیکه دین دی پریښودی تردې خومرګ ډیر ښه دی حمزه په ډیر شک اوتردد کې ولویدی حمزه ؓ فرمایې چی ماله الله ﷻ څخه دادُعاوغوښتله(اللهم ان کان رشدا فاجعل تصدیقه فی قلبی والافاجعل لی مما وقعت فیه مخرجا .

مستدرک جلد۳ صفحه ۱۹۳)

اې الله ﷻ که داسمه لاره وی نوددې تصدیق زماپه زړه کې واچوی اوکه نه وی نودوتلو څه لاره راته پیداکی .

---

(۱) ابن جوزی رحمه الله فرمایې چی حمزه ؓ په کال ۶ نبوی کې اسلام راوړی اوهمدامشهور قول دی حافظ ابن حجر په اصابه کې فرمایې چی حمزه په کال ۳ نبوی کې اسلام راوړی (زرقانی جلد۱ صفحه ۲۵۶)

سیف لودین کتابتون

اوپه یوبل روایت کې راځي چې حمزه رضی الله عنه وایې چې پرما تولهٔ شپه ناارامه او داضطراب په حالت کې تیره سوه دیوه ګړۍ دپاره می هم سترګی نه دی پټی کړي، کله چې په هیڅ ډول داپریشانی اوناارامی نه لیری کیدله نوحرم ته ولاړم اوپه ډیره عاجزی می دا دُعا وغوښتله، اې الله جل جلاله زماسینه دحق لپاره خلاصه کړې داشک اووسوسه راسه لیری کړې دُعامی لانه وه پوره کړې چې په یوه دم ټول باطل خیالونه زماله زړه لیری سو اوزړه می له یقین اواذعان څخه ډک سو، سهار وختی درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسوم اوټوله پیښه می ورته بیان کړه رسول الله ﷺ مبارک زما داستقامت اوپراسلام باندی دپاته کید ودعاراته وکړه (۱) دحاکم په کتاب مستدرک راغلی دی چې حمزه رضی الله عنه درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو داسی یې وویل اشهدانک لصادق شهادة المصدق والعارف) زه شاهدی ور کوم چې رښتیاهم ته رښتینی یې دتصدیق کونکی اوپیژندونکی په څیر شاهدی ورکوم. اې وراره ته خپل دین په ښکاره اعلان که قسم په الله جل جلاله ماته که دنیا اوڅه چې په دنیا کې دی ټول راکی بیا به هم ستاددین په پرېښودسره دخپلوپلرودین نه غوره کوم وروسته یې داسی شعرونه ولوستل:

حَمِدْتُ اللهَ حِيْنَ هَدَى فُؤَادِي .... اِلَى الإِسْلاَمِ وَالدِّيْنِ الْحَنِيْفِ

زه دالله جل جلاله ستاینه اوصفت کوم چې هغه زمازړه ته داسلام اودین ابراهیمی قبلولو توفیق راکی

لِدِيْنٍ جَاءَ مِنْ رَّبٍّ عَزِيْزٍ .... خَبِيْرٍ بِالْعِبَادِ بِهِمْ لَطِيْف

دهغه دین توفیق یې راکی چې ده دالله جل جلاله له لوری راوړی دی هغه چې دبندګانو دحال څخه خبر اوپردوئ مهربان دی..

اِذَا تُلِيَتْ رَسَائِلُهُ عَلَيْنَا .... تَحَدَّر دَمْعُ اللُّبِّ الْحَصِيْف

کله چې دهغه پیغام موږ ته لوستل کیږي، نودپوره عقل درلودنکی انسان اوښکی بهیږی

رَسَائِلُ جَاءَ اَحْمَدُ مَنْ هَدَاهَا .... بِاٰيَاتٍ مُبَيِّنَةِ الْحُرُوْفِ

هغه چې احمد ﷺ دخلکو دلارښوونی دپاره راوړی دی هغه ښکاره اوصفاایتونه دی

وَاَحْمَدُ مُصْطَفَى فِيْنَا مُطَاعٌ .... فَلاَ تَغْشَوْهُ بِالْقَوْلِ الْعَنِيْفِ

دالله جل جلاله غوره نبی ﷺ په موږکې واجب الاطاعت دی، اوهغه څه چې ده راوړی دی هغه په سختو خبرو مه پټوی.

فَلاَ وَاللهِ نُسْلِمُهُ لِقَوْمٍ .... وَلَمَّا نَقْضِ فِيْهِمْ بِالسُّيُوف قسم په الله جل جلاله ترڅوچې موږ په تورو باندی فیصله ونه کړو، ترهغه وخت به محمد ﷺ وهیچاته ونه سپارو.

د حمزه رضی الله عنه په اسلام راوړلوسره قریش په دې پوه سو چې نور نورسول الله ﷺ ته تکلیف اوضرر رسول آسانه کارنه دی..

(۱) روض الانف جلد ۱ صفحه ۱۸۶

سیف لودین کتابتون

10
10

فايده:کله چې دعبدالله بن جدعان مينځې حمزه ﷺ ته دابوجهل دبنکنځلوقصه بيان که نوحمزه ﷺ دغضب اوغصې څخه وايشيدی ، په سيرة ابن هشام ، اودحاکم په مستدک اوعيون الاثرکې دحمزه ﷺ غضب اوغصه په دې الفاظ رانقل سوی ده (فاحتمل الغضب لما اراد الله به من کرامته) حمزه ﷺ ډيرغصه سو ځکه الله ﷻ هغه ته دخير اوعزت اراده وکړه .
له دې څخه دامعلوميږي چې الله ﷻ چې وچاته دخير اراده وکوی دهغه په زړه کې دخپلو دښمنانو کرکه اوغصه اچوی ، دايمان تله اوميزان هلته برابريدای سی کله چې دهغه راسته پله دالله ﷻ دمحبت څخه ډکه وی اوچپه پله يې دبغض فی الله څخه ډکه وی لکه چې نبی کريم ﷺ فرمايلی دی ، من احب لله وابغض لله فقداستکمل الايمان ،چاچې دالله ﷻ دپاره محبت وکوی اودالله ﷻ دپاره يې بغض وساتی هغه خپل ايما ن پوره کړ، ددې کمزوری بنده په فکرسره په حب فی الله اوبغض فی الله کې تلازم دی يوله بل څخه نه بيليږی اودبيلوالی امکان هم نه لری ، خوتوپيريې صرف دومره دی چې کله دحب فی الله ښکاره کول مخکې کيږی،اوکله دبغض فی الله،اوبل داچې حب فی الله په خپله مقصود دی اوبغض فی الله دبل په واسطه مقصوددی په دې وجه دحب فی الله دايمان دتلی په راسته پله کې اودبغض فی الله په چپه خوا کې ايښودل مناسب معلوميږی ، والله اعلم

دقريشو دمشرانو له لوري داسلام ددعوت دبندلو دپاره دپيسو اوحکومت اومشرتوب طمع اودنبی کريم ﷺ رښتينی ځواب ؛

قريشوچې کله داحالت وليدی چې حمزه ﷺ هم اسلام ومنی اودمسلمانانوشمير ورځ تر بلې زياتيږی نوابوجهل اوعتبه اوشيبه اووليدبن مغيره اواميه بن خلف اواسودبن المطلب اودقريشونورومشرانودامشوره وکړه چې دنبی کريم ﷺ سره دخبرولهلاری بايد پريکړه وسی دوئ دخبرولپاره عتبه بن ربيعه وټاکی نوموړی په سحر اوجادوګری اوشعر ويلوکې دخپل وخت ځانګړی سړی وو، عتبه نبی کريم ﷺ ته راغلی ورته وې ويل اې محمد ﷺ ستاپه ښواخلاقواوښه کورنۍ اوښه والی اوامانت کې هيڅ شک نسته مګر افسوس چې تاپه ټول قوم کې بيلوالی راوستی ، زموږ بتانوته بدرد وايې ،زموږ پلرو او نيکه ګانوته ناپوهان وايې زه غواړم تاته ښه مشوره درکړم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : اې ابوالوليد وايه زه يې اورم، عتبه ورته وويل اې زماوراره ستاپه دې خبروکې څه هدف دی که ته مال اودولت غواړی موږ ټول به ستادپاره دومره مال راغونډکړوچې ترټولولوی شتمن اوسرمايه دار به هم له تاسره سيالی نه سی کولای ، اوکه ته واده غواړی ؟ نود مکی له کومې ښځې سره اوله څومره ښځوسره چې ته غواړی موږ به ستاواده وکوو اوکه ته عزت اومشرتوب غواړی ، نوموږ به تاخپل مشراوسردارکو، اوکه حکومت غواړی

سیف لودین کتابتون

نو موږ به تاخپل پاچاجوړ کو او که پر تا باندی پیرانان وی نو موږ به ستا علاج وکوو ؟
نبی کریم ﷺ وفرمایل : اې ابو الولید آیا ستا چی په زړه کې وو هغه دې وویل نو رڅه ویل خونه غواړی عتبه وویل نه ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : ښه اوس زه خبری کوم ته غوږ و نیسه زمانه ستاسو مال او دولت په کار دی ، او نه ستاسو حکومت او سرداری زما په کار دی او نه مې بل څه ته اړتیا شته زه الله ﷻ رالیږلی یم الله ﷻ زه تاسو ته له یو پیغام سره رالیږلی یم او پر ما باندی یې یو کتاب نازل کړی دی او ما ته یې دا حکم کړی دی چی ته دالله ﷻ دثواب زیری ورکوه ، او دهغه دعذاب څخه خلک ویروه ما تاسو ته دالله عزوجل پیغام ورسوی او دنصیحت او خیرغوښتنی په دود مې تاسو خبر کړلاست که تاسو دا پیغام ومنی نو ستاسو دپاره ددواړو جهانو بریالیتوب او ښیګڼه دی او که یې نه منی نو زه به صبر کوم ترڅو چی الله ﷻ زما او ستاسو ترمینځ خپله پریکړه وکوی .
وروسته نبی کریم ﷺ دا آیتونه تلاوت کړله؛

حم (١) تَنْزِيلٌ مِنَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (٢) كِتَابٌ فُصِّلَتْ آيَاتُهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (٣) بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ (٤) وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ وَفِي آذَانِنَا وَقْرٌ وَمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ إِنَّنَا عَامِلُونَ (٥) قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَاسْتَقِيمُوا إِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوهُ وَوَيْلٌ لِلْمُشْرِكِينَ (٦) الَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ (٧) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ (٨) قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَنْدَادًا ذَلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ (٩) وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَاءً لِلسَّائِلِينَ (١٠) ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ (١١) فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ وَأَوْحَى فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا وَزَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَحِفْظًا ذَلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ (١٢) فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنْذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ (١٣) سورة حم سجدة فصلت)

دا هغه کلام دی چی درحمن او رحیم له لوری نازل سوی دی دا یو کتاب دی چی دده آیاتونه روښانه او ښکاره دی دا سی قرآن دی چی په عربی ژبه کې نازل سوی دی دهغه خلکو دپاره لارښوونه کوی چی پوهیږی زیری ورکونکي او ویره ونکی دی حق خو دا وو چی پرده باندی یې ایمان راوړی وای مګر ډیرو خلکو دومره مخ واړوی چی اوری یې هم نه او دوئ وایې چی زموږ زړونه په پردوکې دی دهغه شئ څخه کوم ته چی ته موږ بولی او زموږ په غوږوکی درونډوالی دی او زموږ او ستا ترمینځ یوه لویه پرده مانع ده چی دهغې په وجه ستا په خبره موږ نه پوهیږو ، نو ته خپل کار کوه او موږ به خپل کار کوو ته دوئ ته په ځواب کې ووایه چی ما تاسو په ایمان راوړلو باندی نه یاست مجبوره کړی یوائی دوحی په بلنه کفایت کوم زه خو ستاسی په څیر انسان یم مګر الله ﷻ ما ته نبوت او رسالت

راکړی دی پرمابانډی دالله ﷻ وحی نازلیږی اوتاسوته داوایم چی ستاسومعبود یودی، نوسم سیده هغې خواته متوجه سی اوله الله ﷻ پرته دبل چاله عبادت څخه توبه وکاږی اوهلاکت دی وی شرک کونکودپاره هغه چی زکوة نه ورکوی اوآخرت نه منی اوربښتیاهم هغه خلک چی ایمان راوړی اوښه کارونه وکوی دهغوئ دپاره داسی بدله دی چی هیڅ کله به نه بندیږی ته دوئ ته ووایه چی آیاتاسوهغه الله ﷻ نه منی چی هغه ټوله ځمکه په دووورځوکې پیداکړه اوتاسوله هغه سره شریک نیسی دغه دځمکی پیداکونکی دټول جهان پالونکې دی اوپه دې ځمکه کې یې غرونه جوړکړل اوهمده په دې ځمکه کې برکتونه واچول یعنی بوټی اوحیوانات یې پیداکړه اوپه همدې کې یې خوراکونه ورته مقررکړل داټول په څلورورځوکې وسودسوال کونکودپاره حقیقت معلوم سو بیاددې هرڅه پیداکولووروسته اسمان جوړسو اوپه هغه وخت کې اسمان یودود وو هغه یې پردې اوس حالت جوړکې اوبیایې اسمان اوځمکی دواړوته وفرمایل چی زماحکم په خوشحالۍ ومنی یاپه ناخوښی سره دواړوو ویل چی موږ په ډیری خوشحالۍ سره دحکم دعملی کیدودپاره تیاریو بیاپه دوو ورځوکې الله تعالی اووه اسمانونه جوړکړه اوهراسمان ته یې دهغه حکمونه ولیږل اوددنیااسمان یې په ډیووښائسته کی اودشیطانانو له غوږنیولوڅخه یې خوندی کې دادی تدبیرذالله ﷻ غالب اوپوه اوس که داخلک مخ واړوی اونه یې ومنی نوته ورته ووایه چی زه تاسودداسی اسمانی عذاب څخه ویروم لکه پرعادیانواوثمودیانوچی نازل سوی وو.

رسول الله ﷺ تلاوت کاوو اوعبته دواړه لاسونه پرځمکه لګولی وو اوحیران پاته وو رسول الله ﷺ چی کله وآخری آیت فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنْذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ ته ورسیدی عتبه خپل لاسونه درسول الله ﷺ پرخوله کیښودل اوقسم یې ورکړچی دخدای لپاره ته پرموږباندی رحم وکوه، عتبه وبیریدی چی هسی نه دعادقوم اودثمودقوم په شان عذاب اوس دستی پرموږباندی نازل سی، وروسته رسول الله ﷻ ترسجدی پوری آیتونه تلاوت کړل، اوسجده یې وکړه کله چی تلاوت پای ته ورسیدی نوعتبه ته مخاطب سو وې ویل اې ابوالولید څه چی وو هغه دې واوریدل اوس ستاخوښه دی، عتبه له نبی کریم ﷺ څخه ولاړی اوخپلو ملګروته ورغلی مګر عتبه هغه عتبه نه وو لکه راغلی چی وو ابوجهل وویل عتبه هغه نه ښکاریږی، عتبه خوصابی سوی نه دی، عتبه وویل مادهغه کلام واوریدی قسم په الله ﷻ که ماهیڅ کله داسی کلام اوریدلی وی، نه هغه شعر وو نه هغه سحر، اونه کهانت هغه یوډیر عجیب خوږ کلام وو اې قوم که تاسوزماخبره منی، نومحمد ﷺ پرخپل حال پریږدی قسم په الله ﷻ ماچی له هغه کومی خبری واوریدی نژدی

سیف لودین کتابتون

دی چې دهغه به ډېرلوړشان وی ، که عربودئ له منځه یووړی نوبیاتاسوته دهیڅ فکر اړتیانسته اوکه محمد ﷺ پرعربوباندی غالب سو نودهغه عزت ستاسوعزت دی اودهغه حکومت ستاسوحکومت دی ځکه هغه ستاسودقوم څخه دی ؟

قریشو ورته وویل اې ابوالولید محمد ﷺ پرتاباندی جادوکړی دی ، عتبه وویل زمارایه خودادی چې درته ومې ویل نورنوتاسوچې څه غواړی هغه وکوی (۱)

دقل یاایها الکفرون سورة نازلیدل ؛

له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی : چې قریشوله نبی کریم ﷺ څخه داغوښتنه وکوله چې یاخوته زموږبتانوته بدویل پرېږده اوکه دانه سی کیدای نوزموږاوستاپه مینځ کې دپریکړی یوبل صورت داهم کیدای سی چې یوکال ته زموږدبتانوعبادت کوه اویوکال به موږستادالله ﷻ عبادت اوبندګی کوو په معجم طبرانی کې راغلی دی چې په همدې وخت کې داسورت نازل سو :

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (١) لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (٢) وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٣) وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ (٤) وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٥) لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ (٦) سورة الكفرون)

ته ورتهووایه اې کافرانونه زه ستاسودمعبودانوعبادت کوم اونه تاسوزمادمعبود عبادت کوئ اونه زه ستاسودمعبودانوعبادت کوم اونه تاسوزمادمعبودعبادت کوئ ستاسودپاره ستاسودین دی اوزمادپاره زمادین دی .

دابن جریر طبری په روایت کې راغلی دی چې له دې سورت پرته نوردآیتونه هم نازل سو

قُلْ أَفَغَيْرَ اللَّهِ تَأْمُرُونِّي أَعْبُدُ أَيُّهَا الْجَاهِلُونَ (٦٤) وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ (٦٥) بَلِ اللَّهَ فَاعْبُدْ وَكُن مِّنَ الشَّاكِرِينَ (٦٦) سورة الزمر)

ته دوئ ته ووایه اې ناخبرو آیاتاسوماته دالله ﷻ پرته دعبادت مشوره راکوئ اویقیناً تاته اوترتامخکې پیغمبرانوته داوحی سوی ده چې اې مخاطب که ته شرک وکوی نوستاټول اعمال به لاهوسی اوپه تاوان کې به ولوېږی اې مخاطب هیڅ کله شرک مه کوه بلکې تل دالله ﷻ عبادت کوه اودهغه دشکرکښونکوبندګانوڅخه سه .

دمکی دمشرکینوځوښی فایدی اوبې معنی غوښتنی ؛

له دې وروسته قریشورسول الله ﷺ ته وویل : چې خیرکه ته دانه سی کولای نوموږیوبل شئ تاته وړاندی کوو ، هغه ومنه ، هغه داچې ته په دې خبرېږې چې ستاقوم ډېرتنګلاسی اوبیوزله دی اودمکی ښار هم ډېرتنګ دی هری خواته غرونه دی دشینوالی نوم اونښان نسته نوته دخپل رب څخه هغه چې ته یې پیغمبررالیږلی یې له هغه څخه داوغواړه چې

---

(۱) عیون الاثر جلد۱ صفحه ۱۰۵، زرقانی شرح مواهب جلد۱ صفحه ۲۵۷، الخصائص الکبری جلد۱ صفحه ۱۱۴)

سیف لودین کتابتون

ددې ښار غرونه له دې ځای څخه لیرې سي ددې لپاره چې ښار فراخ سي اود شام اوعراق په څیر په ښار کې ویالې وبهیږي اوزموږ پلرونه اونیکه ګان خصوصاً لکه قصی بن کلاب راژوندي سي (۱) اوموږ دهغوئ څخه ستاپه اړه وپوښتوچې داته چې څه وایې داحق دی اوکه باطل که زموږ پلرو اونیکه ګانو ستاتصدیق وکوی نوبیاموږ هم ستاتصدیق کوو ؟

رسول الله ﷺ وفرمایل زه ددې دپاره نه یم رالیږل سوی ، الله ﷻ چې کوم پیغام ماته راکړی دی هغه مې تاسوته ورسوی ، که تاسوهغه قبول کې نوستاسو ښه نصیب به وی اوکه تاسوونه مني نوزه به صبرکوم ترڅو چې الله ﷻ زمااوستاسوترمینځ فیصله کوی ،

قریشوو ویل ښه که ته زموږلپاره داسی نه سی کولای نوته دالله ﷻ څخه دځان دپاره داوغواړه چې الله ﷻ له اسمان یوه فرشته راکښته کی اوستادتصدیق دپاره له تاسره په هرځای کې وی اوداهم له الله ﷻ وغواړه چې هغه تاته باغونه اوسرایونه اوزروخزانی درکړی چې په هغه سره ستاعزت اومشری معلومه سی اوس خو ته هم زموږ په څیر دڅوند داړتیاو لپاره بازاروته ځې ؟

رسول الله ﷺ وفرمایل :زه دالله ﷻ څخه هیڅ کله داسی غوښتنه نه کوم زه ددې دپاره نه یم رالیږل سوی ، زه خوزیری ورکونکی اوویرونکي یم ، که تاسوزماخبره مني وې منئ ستاسودپاره په دنیااوآخرت کې نیک بختی اوبریالیتوب دی، اوکه یې نه منئ مه یې مني زه به صبرکوم ترڅوچې الله ﷻ زمااو ستاسوترمینځ فیصله وکوی ،

قریشو وویل چې ته له الله ﷻ دانه غواړی نوداوغواړه چې پرموږباندی کوم عذاب نازل کي

رسو ل الله ﷺ وویل چې دعذاب واک له ماسره نسته دالله ﷻ خوښه ده چې پرتاسوعذاب نازولی اوکه وخت درکوی ،ددې ځواب په اوریدوسره عبدالله بن ابی امیه (۲) ولاړسو اووې ویل اې محمد ﷺ ستاقوم ستاپه مخکې دومره خبری وړاندی کي مګرتایوه خبره هم نه ومنله اې محمد ﷺ قسم په الله ﷻ که ته ځینه اسمان ته کیږدی اوو خیژی هم اوله اسمان دخپل نبوت او رسالت لیکلی پاڼه راوړی اوڅلورفرشتی هم درسره ملګری وی او ستاپه نبوت باندی ښکاره شاهدی ورکړی نوزه به بیاهم ستاتصدیق ونه کوم رسو ل الله ﷺ نا امیده کورته بیرته ولاړی

---

(۱) البدایه والنهایه جلد۲ صفحه ۵۱ کې راغلی دی چې له رسول الله ﷺ څخه یې ولی دقصی بن کلاب دژوندی کولوغوښتنه وکړه نودهغه علت یې ویلی دی ، فانه کان شیخاً صدوقاً ، ځکه قصی رښتینی سپین ږیری وو اوالله تعالی فرمایی وَقَالُوا مَالِ هَذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ لَوْلَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُ نَذِيرًا (۷) أَوْ يُلْقَى إِلَيْهِ كَنْزٌ أَوْ تَكُونُ لَهُ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا وَقَالَ الظَّالِمُونَ إِنْ تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَسْحُورًا (۸) انْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْأَمْثَالَ فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا (۹) تَبَارَكَ الَّذِي إِنْ شَاءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِنْ ذَلِكَ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَيَجْعَلْ لَكَ قُصُورًا (۱۰) سورة الفرقان) داآیتونه ددې پیښې په هکله نازل سو

(۲) عبدالله بن ابی امیه درسول الله ﷺ دترور زوی وواودام المؤمنین ام سلمه ؓ ورور دی دمکی په فتح کې په اسلام مشرف سو دام المؤمنین ؓ په شفاعت سره رسول الله ﷺ هغه وبخښی داآیتونه دده په باره کې نازل سوی دی (وَقَالُوا لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتَّى تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْأَرْضِ يَنْبُوعًا (۹۰) أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِنْ نَخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْأَنْهَارَ خِلَالَهَا تَفْجِيرًا (۹۱) أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا أَوْ تَأْتِيَ بِاللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ قَبِيلًا (۹۲) أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِنْ زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَى فِي السَّمَاءِ وَلَنْ نُؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَابًا نَقْرَؤُهُ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنْتُ إِلَّا بَشَرًا رَسُولًا (۹۳) سورة الاسراء) اصابه جلد۲/ص/۲۷)

سیف لودین کتابتون

د دوئ پر غوښتنو باندې د مصنف رحمه الله علیه رڼا اچول !

الله تعالی چې کله چاته د نبوت او رسالت مرتبه ورکړی نو له نبوت سره د رسالت لپاره دلائل او علامی هم ورکوی که یو سړی خپل زړه له حسد او کین څخه پاک کی او په هغه علاموکې ښه غور او فکر وکوی نو هغه ته په نبوت او رسالت کې هیڅ شک نه پاته کیږی مګر داسې براهین او دلائل نه شي ورکوی چې دهغو په لیدو سره خامخا د انبیاء علیهم السلام د صدق اوربښتینوالی یقین کیږی، ځکه مقصود خو ابتلاء او امتحان دی او امتحان اکتسابی شئ دی یعنی کوم ایمان چې په علاماتو د نبوت اورسالت کې له غوراوفکر کولو وروسته راوړل سی په همدې ایمان او یقین او همدې تصدیق او اذعان باندی د جنت او دوزخ دارو مدار دی او کوم ایمان او تصدیق چې په خپل اختیار او اراده سره وی په شریعت کې هغه معتبر دی او کوم تصدیق چې د مجبوري او په ښکاره دلیل حاصل سی هغه نه په شریعت کې معتبر دی او نه د الله ﷻ خوښ دی ، یوائې د انبیاء الله علیهم السلام په قول باندی د ملائکه وو منل ایمان اختیاری دی او تصدیق ارادی دی او د مرګ په وخت کې د فرشتو لیدل هغه وخت فرشتی حق ګڼل داد مجبوري او غیر اختیا ری ایمان او تصدیق دی او په شریعت کې هیڅ اعتبار نه لری، دنیا د ابتلاء او متحان کور دی له دې وجی انبیاء علیهم السلام ته داسې معجزی نه ورکول کیدی چې دهغو معجزو په لیدو سره خامخا د انبیاء حقانیت معلوم سی او هیڅوک انکار نه سی ځنی کولای ځکه دا سراسر د حکمت خلاف دی او بل داچې د انبیاء علیهم السلام د بعثت چې کوم مقصد دی هغه نیستی کیږی ځکه مقصود خو دادی چې خلک په خپل اختیار سره ایمان راوړی که مجبوری مقصود وی نو د انبیاء علیهم السلام ، دنیا ته د راتلو څه ضرورت وو الله ﷻ به په خپله خپل کلام وبندګانو ته اورولی وو بیله واسطی د کلام الهی له اوریدلو وروسته د چانه منل امکان نه لری ، د مکې مشرکینو داسې رنګ دلائل او علامی وغوښتلې چې د هغو په لیدو سره خامخا د رسول الله ﷺ د نبوت اورسالت یقین راتلی، مثلا د خلکو په مخکې د ملائکو تصدیق د رسول الله ﷺ د رسالت شاهدی ورکول ، یا د مړو په ژوندی کولو سره د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت شاهدی ورکول د داسې علامو د ښکاره کولو څخه په دې وجه انکار وسو چې د داسې معجزو ښکاره کول د بعثت د مقصد او حکم سره ضد او منافی دی د غه رنګه د الله ﷻ داعادت شریف دی چې کوم قوم د غوښتل سوی معجزی څخه وروسته بیا هم ایمان نه راوړی هغوئ په دغه وخت کې په الهی عذاب خامخا هلاک کیږی لکه د پخوانو امتونو پیښي چې په قرآن عظیم کې ځای ځای ذکر سوی دی لکه چې الله تعالی فرمایی :

وَمَا مَنَعَنَا أَن نُّرْسِلَ بِالْآيَاتِ إِلَّا أَن كَذَّبَ بِهَا الْأَوَّلُونَ وَآتَيْنَا ثَمُودَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوا بِهَا وَمَا نُرْسِلُ بِالْآيَاتِ إِلَّا تَخْوِيفًا (۵۹) سورة الاسراء)

سیف لودین کتابتون

ژباړه : داخاص ننبې چې قريشوغوښتې دی موږ ته ددې په راوړلو کی هیڅ مانع نسته مگریوائی داچې مخکې خلکوهم دداسې معجزوله ليدلووروسته بیاهم ایمان نه راوړی او انکاریې وکی ځکه دوئ هلاک سو دغه رنګه داخلک به هم دغوښتل سو معجزوله لیدلووروسته که ایمان رانه وړی نودمخکې قوموپه څير به دوئ هم هلاک سی .

لکه څنګه چې نبی کریم ﷺ رحمة للعالمین رالیږل سوی دی دهغه په برکت سره داسې عذابونه پورته سوی دی هغه چې په پخوانوامتوباندی نازل سوی وو لکه چې په يو روا يت کې راغلی دی چې قريشورسول الله ﷺ ته وویل ته دصفاله غره څخه سره زر جوړ که ؟ نبی کريم ﷺ اراده وکوله چې داځل دالله ﷻ څخه دادعاوغواړی ،خوجبرئيل ﷺ تشريف راوړی ورته وې فرمايل چې اې نبی کريم ﷺ ته دوئ ته ووايه چې تاسوڅه غواړئ هغه کیږی مگر داپه يادوساتی چې ددې ننبوله ښکاره کيدووروسته که ايما ن نه راوړی نو بیاموخیر نسته ، سمدستې به هلاک کیږی ، قريشو وویل چې موږ دمعجزوليدلوته هيڅ اړتيانه لرو داټول دعلامه سهيلی دخبروتفصيل دی (روض الانف جلد ١ صفحه ١٨٧)

دمکې قريشو ديهود دعلماء سره مشوره :

قريشوته چې کله داڅرګنده سوه چې زموږداغوښتنې دناپوهانواوجاهلانووی دوئ مشوره وکړه چې يوبه نضر بن حارث اوبل عقبه بن ابی معيط مدينې ته ولیږو ددې دپاره چې ديهودوله علماء څخه درسول الله ﷺ په اړه پوښتنه وکوی ؟ دوئ دواړه مدينې منورې ته ورسيدل اوديهودعلماء ته يې ټوله قصه بيان که . ديهودوعلماؤ وویل چې تاسوله محمد ﷺ څخه ددرې شيانوپوښتنه وکوی .لومړی هغه خلک څوک دی چې په غارکې پټ سوی وو ،اودهغوئ څرنګه قصه وه (يعنی له محمد ﷺ څخه داصحاب کهف قصه وپوښتی دويم هغه کوم سړی دی چې له مشرق څخه بياترمغرب پوری دټولې ځمکې پر مخ ګرزيدلی دی (يعنی ذوالقرنين دقصې وپوښتی) دريم روح څه شئ دی ؟ محمد ﷺ که له دې دروسوالوڅخه داول اودويم جواب درکی اوله دريمه پټه خوله سو نوپوه سی چې هغه رښتيا نبی دی اوکه داسې نه وو نودروغجن دی ، نضربن حارث اوعقبه خوشحاله اوتلوار مکې ته راغلو اوقريشوته يې وويل چې موږفيصله کونکې خبره راوړی دی ، دوئ درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضر سو ،اوداسوالونه يې ورته وړاندی کړل ، رسول الله ﷺ په دې اميدباندی چې ترصباپوری به ددې په اړه وحی نازله سی داوفرمايل چې صبابه زه ددې جواب درکړم دبشريت په مقتضاله نبی کريم ﷺ څخه ان شاء الله ويل هير سودڅوورځوانتظار څخه وروسته سورة کهف نازل سو چې په هغه کې داصحاب کهف اوذوالقرنين قصه په تفصيل سره بيان سوه ، اوددريم سوال په اړه داآيت نازل سو :

سیف لودین کتابتون

یعنی ته ورته ووایه چې د روح حقیقت وهیچانه دی معلوم خوستاسو لپاره داکافی دی چې روح یوشئ دی ، دالله ﷻ په حکم چې کله په بدن کې ننوزی نوهغه ژوندی کیږی او کله چې ځنی ووزی نومړ کیږی (موضح القرآن) اوپه مقتضی دبشریت چې له نبی کریم ﷺ ځخه انشاءالله ویل هیرسوی وو دهغه په اړه دا آیت نازل سو؛

وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا (٢٣) إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ وَاذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ (٢٤) سورة كهف)

دهیڅ شئ په باره کې دامه وایه چې زه به داکار صباکوم مګر ان شاء الله دهغه سره خامخا وایه او که دې هیرسی نو کله چې دریادسی په هغه وخت کې ان شاء الله ووایه ددې دپاره چې دهغه هیرسوی پټې سی .ځکه ابن عباس ﷺ ویلی دی چې که یو کال وروسته هم ان شاء الله دریادسی نوپه هغه وخت کې یې ووایه ددې لپاره چې دهغه خطا اوهیری ځای ونیسی دیو کال وروسته ان شاء الله دامطلب دی ، اودامطلب یې نه دی چې تریو کال وروسته دطلاق اوعتاق تعلیق معتبردی ځکه دغه سړی دالله تعالی خوښه پرینبوده اوپه خپله خوښه یې باور وکی دایې وویل چې زه به صباداکار کوم دالله ﷻ په نزد ناخوښه دی په دې جه که له یوسړی ځخه سمدستی ان شاء الله ویل هیرسی نودهغه جبران دادی چې کله وریادسی نوپه هغه وخت کې دی ان شاء الله وایې ددې لپاره چې دهیرځای ودریږی ..دابن عباس ﷺ دامطلب نه دی چې دطلاق اوعتاق اویمنی په مسئلوکې هم دیو کال وروسته ان شاء الله ویل معتبردی ، امام ابن جریر اوحافظ ابن کثیر دابن عباس ﷺ ددې قول همدامطلب بیان کړی دی ..

روح اونفس څه ته وایې ؟

دروح په حقیقت کې دعلماء ډیر ی خبری راغلی دی خوحقیقت دادی چې ددې حقیقت له الله ﷻ پرته بل هیچاته نه دی معلوم ، حافظ ابن ارسلان رحمه الله په متن الزیدن کې فرمایې والروح ما اخبر منها المجتبی ....فنمسک المقال عنها ادبا

په دې ځای کې مقصوددانه دی چې دلته دفلاسفه اوطبیبانو مختلف خبری رانقل کړو او لوستونکی په حیرت اوپریشانی کې واچول سی ..بلکې مقصوددادی چې په ډیر کوتاه ډول دادرته بیان کړو چې کتاب الله اوسنت درسول الله ﷺ دروح اونفس په اړه څه لارښوو نه کړی دی او ترکومی کچې یې موږ دروح اونفس له حالاتو خبر کړی یو ، دجمهور و علماء په نظر روح ډیو نورانی اونرم جسم نوم دی چې په بدن کې داسی جریان لری اوخپوروی لکه اوبه دګلاب په پاڼه کې اویالکه زیتون تیل دزیتون په درخته کې ترهغه وخته چې دانرم جسم په سخت جسم کې جاری وی تردغه وخته پوری به داسخت جسم ژوندی وی ،

سیف لودین کتابتون

اوکله چې دانرم جسم دهغه سخت جسم څخه جلاسی نودغه سخت جسم مړکیږی ، دنرم جسم له سخت جسم سره یوځای والی اوتعلق ساتلونوم ژوندډی اودبیلوالی اوپریکون نوم یې مرګ دی ،داچې روح نرم جسم دی له قرآني آیاتو اوبیشمیره احادیث نبویه علی صاحبها الف الف صلوة والف تحیة څخه ثابت دی،مثلاً دروح نیول اوپریښودل اود ملائکه وو دهغه دپاره دلاس اوږدول ، اوروح دمرګ په وخت کې مرۍ ته رسیدل دروح صفات دی په قرآن کریم کې داصفتونه یادسوی دی اوپه دې سره دهغه جسم کیدل ښکاره معلومیږی په حدیث شریف کې راځی چې کله دمومنارو حونه وزی نودمؤمن ستر ګی هغه ته ګوری ، دمؤمن روح دمرغۍ په څیر دجنت په ونوکې الوزی اودهغه ځای میوی خوری ، دعرش عظیم په قندیلوکې آرام کوی دمومن روح دجنت په کفن کې پیچل کیږی اوملائکې یې آسمان ته پورته کوی ، دروح لپاره داسمان دروازی خلاصیږی د هر آسمان نږدی ملائکه وی تردروازی پوری له هغه سره درخصت لپاره ځی ترڅو چې الله ﷻ ته رسیږی .

اودکافر روح اسفل السافلین اوسجین اور ته غورزی دمؤمن دروح لپاره فرشتې له جنت وړښمین کفن راوړی اودکافر دروح لپاره دتور ټاټ کفن راوړی ، دمومن روح خوشبویه وی دملائکه وو پرکوم ټولی باندی چې هغه تیریږی ملائکه وایې سبحان الله څومره پاک روح دی ، اودکافر روح بدبویه وی ، حافظ ابن قیم قدس الله روحه په خپل کتاب الروح کې داخبره چې روح نرم جسم دی په یوسل شپاړس دلیلو ثابته کړی دی ، په دلیل کې یې یوځی دقرآن اوسنت اودسلفو اقوال راوړی دی ، حافظ ابن قیم رحمة الله علیه فرمایې : چې قرآن اوسنت اودصحابه کرام رضی الله عنهم اجماع پر همدې باندی دلالت کوی چې روح دیو نرم جسم نوم دی ، اوصحیح اوسلیم عقل هم ددې شاهدی ورکوی (١)

دامام غزالی رحمة الله علیه استاذ امام الحرمین هم په (ارشاد) کې دروح همدغه تعریف کړی دی کوم چې موږ ذکر کی ، اوعلامه تفتازانی دشرح مقاصدپه بحث دمعادکې داقول را نقل کړی دی ، علامه بقاعی په سرالروح کې دامام الحرمین قول نقل کوی اوفرمایې :

علی هذاالقول دل الکتاب والسنة واجماع الصحابة وادلة العقل والفطرة سری الروح) دقرآن اوحدیث اواجماع دصحابه وو اودعقل په غوښتنه اوله فطرته همداثابتیږی چې روح یونرم جسم دی او په سخت جسم کې چې بدن دی جریان لری ،

اوشیخ عزالدین بن عبدالسلام فرمایې : ویجوز ان تکون الارواح کلها نورانیة لطیفة شفافة ویجوزان یختص ذلک بارواح المؤمنین والملائکة دون ارواح الکفار والشیاطین)

(١) کتاب الروح لابن القیم صفحه ٢٨٤)

سیف لودین کتابتون

کیدای سی چی ټول ارواح نورانی اونرم اوروښانه وی اوداهم کیدای سی چی نورانیت یواځي دمؤمنانواوملائکه ووتراروا حوپوری خاص وی دکافرانواوشیطانانوارواح نورانی نه وی لکه چی په حدیث دصورشپیلۍ کی راغلی دی

ان اسرافیل یدعو الارواح فتاتیه جمیعا ارواح المسلمین تتوهج نورا والاخری مظلمة (شرح الصدور صفحه ۲۱۹)

ژباړه اسرافیل ؑ به ټول ارواح راوبولی دمسلمانانوروحونه به روښانه اوتازه وی اودکافرانوروحونه به تور اوتاریک وی..

له دې حدیث داسی معلومیږی چی نورانیت یواځي دمؤمنانوتراروا حوپوری خاص دی ځکه دکافرانوروحونه به تور اوتاریک وی مگر کیدای سی چی په اصل فطرت کې د مومنانواوکافرانوټولوارواح نورانی وی لکه په حدیث کې چی راغلی دی :

(کل مولود یولد علی الفطرة فأبواه یهودانه او ینصرانه او یمجسانه)

دمسلمان روح دایمان په وجه روښانه کیږی ځکه ایمان په اصل کې روښانه دی ، اود کافرروح دکفرپه وجه تور یږی ، لکه حجراسود چی کله له جنت څخه راوړل سوه نوترشیدوډیره سپینه وه مگر دانسانانودگناهوپه وجه تکه توره سوه ، دغه رقم کیدای سی چی روح په اصل فطرت کې روښانه وی مگر دکافر روح وروسته دکفر اوشرک په وجه توراوتاریک سی ځکه کفرپه حقیقت کې تیاره دی اوایمان نور اورڼادی .

لکه چی الله تعالی فرمایي :

{ اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُمْ مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (۲۵۷) } سورة البقرة

داآیت ددې خبری ښکاره دلیل دی چی ایمان رڼادی اوکفرتیاره ، اودقیامت په ورځ به دمؤمنانومخونه روښانه کیږی ، اودکافرانومخونه به توریږی اوتاریک به وی ، په قرآن کریم کې ښکاره راغلی دی : يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ (آل عمران ۱۰۶ آیت) داټول به دایمان دنور اودکفر دتوروالی د ښکارولولپاره وی اوپه دې وجه فرشتی دمؤمن روح په سپین کفن کې اودکافرروح دتورټاټ په کفن کې له ځان سره وړی،بهرحال له آیاتواوحدیثو څخه دامعلومیږی چی دعبادت رنگ سپین اودگناه رنگ توردی ، دتفصیل دپاره نورداځای نه دی کتاب الروح په خپله وگوري .

بسم الله الرحمن الرحیم ؛

دروح اونفس ترمینځ څه فرق دی ؛

دبعض علماء په نزد روح اونفس دواړه یوشئ دی ، مگر دمحقیقن علماء په نظر روح اونفس دواړه بیل بیل شیان دی ،

دروح اونفس ترمینځ څه توپیردی ؟

سیف لودین کتابتون

استاذ ابو القاسم قشیری رحمة الله علیه فرمایلی دی : د ښو اخلاقو د منبع زیرمی او چینی نوم روح دی او د بدو اخلاقو د زیرمی او سرچینی نوم نفس دی ، مګر دوئ دواړه په دې کې شریک دی چی نرم جسم دی ، لکه فرشتی او شیطانان دوئ دواړه نرم جسم دی مګر ملائکه وی نورانی دی او شیطانان ناری دی ملائکه له نوره پیدا سوی دی او شیطانان له اوره پیدا سوی دی لکه چی د صحیح مسلم په صریح حدیث کې راغلی دی :

حافظ ابن عبد البر رحمة الله علیه په دې اړه په (تمهید) کتاب کې داسی حدیث را نقل کړی دی :

ان الله خلق آدم وجعل فیه نفسا وروحا فمن الروح عفافه وفهمه وحلمه وسخائه ووفائه ومن النفس شهوته وطیئسه وسفهه وغضبه ونحو هذا (روض الانف جلد۱/ص/۱۹۷)

ژباړه : الله تعالی انسان پیدا کی او په هغه کې نفس او روح دواړه کیښودل له روح څخه د انسان پاک لمنی او پوهه او نرمی او وفاء دا ټول شیان له روح څخه دی

او شهوت او غضب او ناپوهی او غصه دا ټول بد خویونه بیا له نفس څخه دی ،

خلاصه دا دی چی ښه اخلاق او ښه صفات له روح څخه صادریږی او بد اخلاق او بد خویونه له نفس څخه صادریږی ..

او له قرآن او حدیث څخه هم همداسی معلومیږی ځکه شهوت او ناپوهی او غضب او داسی نور بد خویونه په قرآن او حدیث کې نفس ته منسوب سوی دی روح ته نه دی منسوب سوی لکه چی الله تعالی فرمایی : وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ (۳۱حم سجدة) ژباړه : ستاسو د پاره په جنت کې هغه څه دی چی ستاسو نفسونه یې غواړی

وَأُحْضِرَتِ الْأَنفُسُ الشُّحَّ (سورة النساء آیت ۱۲۸) او نفسونه حاضر سوی دی حرص و بخل ته ،،

وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَىٰ (۴۰سورة النازعات) او کوم سړی چی د خپل رب په مخکې له دریدو ویریږی او نفس یې له شهوتو څخه پاک وساتی نو جنت د هغه د اوسیدو ځای دی .

په دې آیاتو کې شهوت او حرص او غوښتنی یې نفس ته منسوب کړی دی او داسی یې نه دی فرمایلی (ولکم فیها ما تشتهی ارواحکم ، احضرت الارواح الشح ، ونهی الروح عن الهوی)

او په دې آیت کې یې سفاهت نفس ته منسوب کړی دی او الامن سفهت روحه یې نه دی فرمایلی ، په حدیث شریف کې راځی چی غښتلی او پهلوان هغه سړی دی چی د غصی په وخت کې خپل نفس په واک کې راولی ، او داسی یې نه دی فرمایلی چی د غصی په وخت کې خپل روح په واک کې راولی ..

او د غه رقم په حدیثو کې له نفس سره جهاد کولو ته ډیر ترغیب سوی دی او د نفس جهاد ته یې جهاد اکبر ویلی دی مګر له روح سره جهاد کول په هیڅ حدیث کې نه دی راغلی ..

سیف لودین کتابتون

په یوضعیف الاسنادحدیث کې داسی راغلی دی (اعدی عدوک نفسک التی بین جنبیک) ترټولولوی دښمن ستانفس ستادی چی ستاد دواړو بغلوپه مینځ کې ځای لری ، ددې حدیث څخه دوې خبری معلومیږی اول خوداچی نفس ترټولولوی دښمن دی دویم دا چی دنفس ځای ددووبغلوترمینځ دی له دې هم ثابته سوه چی نفس له روح بیل شئ دی ځکه روح دانسان دښمن نه دی ،اوبل داچی روح له سره ترپښوپوری په ټولواندامو کې جریان لری اوخپورو ی ، په یوه بغل پوری خاص نه دی همداسی روایت له خزیمه بن حکیم ﷺ څخه هم سوی دی وایې، چی ماله نبی کریم ﷺ څخه دنفس دځای پوښتنه وکړه نبی کریم ﷺ وفرمایل چی زړه دی ، داحدیث په طبرانی اومعجم الاوسط کې په ډیروسندوسره نقل سوی دی (شرح الصدور صفحه ۲۱۷)

دغه رنګه کین په قرآن کریم نفس ته منسوب سوی دی :

حَسَدًا مِنۡ عِنۡدِ أَنۡفُسِهِمۡ (سورة البقرة آیت ۱۰۹) دکین په وجه هغه چی ددوئ له نفسو څخه پیدا کیږی .

لَقَدِ اسۡتَكۡبَرُوا فِي أَنۡفُسِهِمۡ (الفرقان آیت ۲۱) رښتیاهم دوئ په خپلو نفسو کې ځانونه لوی وګڼل

دغه رنګه دالله ﷻ ارشاددی (إِنَّ النَّفۡسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوٓءِ (۵۳آیت سورة یوسف) دابنکاره پردې دلالت کوی چی دټولوبدیوسرچینه نفس دی داسی یې هیڅ ځای نه دی فرمایلی چی (ان الروح لامارة بالسوء) له وهب بن منبه څخه نقل سوی دی چی روح انسان دخیرخواته بیایې، اونفس یې دشرخواته بیایې زړه که مؤمن وی نودروح پیروی کوی (اخرجه ابن عبدالبرفی التمهید) شرح الصدور ۲۱۶،)

په طبقات ابن سعدصفحه کې له وهب بن منبه څخه روایت سوی دی : چی الله عزوجل لومړی دحضرت آدم علیه السلام داوبواوختی کالبوت جوړکې ، بیایې په هغه کې نفس پیداکې بیایې روح په کښی پوکې (شرح الصدورصفحه ۱۱۶) له دې معلومه سوه چی روح دنفس څخه بیل شئ دی اوبل داچی روح له عالم امرڅخه دی او نفس له عالم خلق څخه دی علامه بقاعی په سرالروح کې لیکلی دی :

وفی زادالمسیر لابن الجوزی فی تفسیرسورة الزمر عن ابن عباس رضی الله عنه ان آدم نفس وروح فالنفس العقل والتمیز والروح النفس والتحریک فاذانام العبد قبض الله نفسه ولم یقبض روحه وقال ابن جریح فی الانسان روح ونفس بینهما حاجز فهوتعالی یقبض النفس عندالنوم ثم یردها الی الجسد عندالانتباه فاذااراداماتة العبدفی النوم لم یرد النفس وقبض الروح والله اعلم (سرالروح صفحه ۱۱)

ژباړه :دعلامه ابن جوزی رحمه الله علیه په کتاب زادالمسیر کې په تفسیردسورة الزمرکی راغلی دی ، چی له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چی انسان دروح اونفس یوه مجموعه

سیف لودین کتابتون

دی ، انسان په نفس سره ادراک اوجلاوالی دشیانوکوی اوپه روح سره ساه اخلی اوحرکت کوی کله چی انسان ویده سی نو الله ﷻ دهغه نفس قبض کوی مگر روح نه قبض کوی ابن جریح فرمایلی دی چی په انسان کې یونفس دی اوبل روح اوددوئ ترمنیځ یوه پرده واقع دی دخوب په وخت کې الله تعالی نفس اخلی اودویښتیاپه وخت کې یې بیرته ورکوی اوکله چی الله تعالی دویده دمرګ اراده وکوی نو هغه ته نفس بیرته نه راګرزی اوروح ځنی اخلی .

د روح شکل ؛

دروح شکل همداسی دی لکه دانسان شکل چی دی څنګه چی دجسم سترګی پزه لاس پښي سته دغه رنګه دروح هم سترګی پزه لاس پښي ټوله شیان سته اصل انسان خوروح دی اودابښکاره بدن چی معلومیږی دادروح لپاره یوغالب دی دروح لپاره بدن داسی دی لکه جامه دبدن لپاره دروح دلاسولپاره دبدن لاسونه داسی لکه لستوڼی دلاس لپاره اودورح دزنګنولپاره دبدن زنګنونه داسی دی لکه دبدن دزنګنولپاره پرتوګ اودروح دسرلپاره دبدن سرداسی دی لکه خولۍ دسرلپاره اودروح دمخ لپاره مخ داسی دی لکه پړونۍ دمخ لپاره وقس علی هذا

دقریشوونبي کریم ﷺ تکلیفونه رسول ؛

قریشوچی کله ولیدل چی اسلامی دعوت په ښکاره شروع دی اودبتانودعبادت کونکو بدی په ښکاره بیانیږی نودوئ داونه سوه زغملای اوهغه چاچی دیوه خدای لوری ته بلنه کوله دهغه دښمنی ته یې ملاوتړله اودتوحید دمقابلی لپاره تیارسو اودااراده یې وکړه چی نبی کریم ﷺ ته داسی ستونزی راولاړی کې چی له اسلامی دعوته مخ واړوی ،

لومړی په معجم طبرانی کې له منیب غامدی ؓ څخه روایت سوی دی وایې چی مانبی کریم ﷺ ولیدی ، چی خلکوته یې ویل : اې خلکو لااله الاالله ووایاست کامیاب به سی ، مګریوشمیربدبختانوبه هغه مبارک ته ښکنځل کول اولاړی به یې ورتوکلی اونورو به بیاخاوری پرپاشلی دغه رنګه روان ووچی غرمه سوپه همدې وخت کې یوی انجلۍ اوبه راوړی اودنبی کریم ﷺ مخ مبارک اولاس یې ورپریوللل ، ماپوښتنه وکړه چی داانجلۍ څوک وه چاراته وویل چی دادنبی کریم ﷺ لورزینب ؓ ده بخاری هم داحدیث کوتاه راوړی دی په همدې سند سره مگر داحدیث له حارث بن حارث غامدی ؓ څخه هم روایت سوی دی او په هغه کې نور زیادت هم راغلی دی ، چی زینب ؓ ته نبی کریم ﷺ وفرمایل اې لوری ؛ته دخپل پلارپه ماته اورسوایې مه ویریږه .رواه الطبرانی فی تاریخه اوابونعیم ابوزرعه دمشقی فرمایلی دی چی داحدیث صحیح دی (۱)

سیف لودین کتابتون

(دویم) له طارق بن عبدالله المحاربی رضی الله عنه څخه روایت سوی دی وایې چې ما رسول الله ﷺ د ذی المجاز په بازار کی ولیدی چې خلکو ته یې ویل : اې خلکو لااله الاالله ووایاست کامیاب به سی او یو سړی دده مبارک ترشا روان وو او په کاڼو یې ویشتی او د کاڼو له ویشتلو څخه دده بدن مبارک په وینو تک سور سو ، او دغه دښاسړی بیا ویل (یاایها الناس لاتطیعوه فانه کذاب) اې خلکو دده خبره مه منی دا دروغجن دی (رواه ابن ابن شیبه)

(دریم) د بنی کنانه یو سپین ږیری وایې چې ما نبی کریم ﷺ په ذی المجاز بازار کی ولیدی چې خلکو ته یې فرمایل: اې خلکو لااله الاالله ووایاست کامیاب به سی ، او ابوجهل له شا ورپسی روان وو او په کاڼو یې ویشتی او دا یې ویل ، اې خلکو خطانه سی محمد ﷺ غواړی چې تاسو له لات او عزی څخه بیل سی . خو نبی کریم ﷺ هغه ته یوه ذره هم نه کتل او خپل دعوت یې کاوو (۳)

څلورم : عروه بن الزبیر رضی الله عنه فرمایې : چې ما عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه ته وویل ، مشرکینو چې رسول الله ﷺ ته کوم تکلیف رسولی دی هغه خو راته بیان کړه ، عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه وفرمایل : چې یوه ورځ رسول الله ﷺ په حطیم کې لمونځ کوی او عقبه بن ابی معیط د نبی کریم ﷺ په څټ مبارک کی پټو واچوی او په داسی زور سره یې راکش کئ چې غاړه یې خفه سوه ، سمدستی ابوبکرصدیق رضی الله عنه راغلی او عقبه یې لیری کی او دا ایت یې ولوستې :

أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَاءَكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ رَبِّكُمْ (سورة غافر ، آیت ۲۸)

آیا تاسو یو سړی په دې خبره باندی وژنی چې هغه وایې زما رب یواځی الله جل جلاله دی او د خپل نبوت او رسالت ښکاره دلیلونه یې تاسو ته راوړی دی ستاسو د رب عزوجل له لوری څخه (بخاری شریف)

فرعون او هامان چې کله د موسی علیه السلام د وژلو مشهوره وکړه نو د فرعون په خلکو کې یو سړی چې پټ مسلمان وو وویل ، آیا داسی سړې وژنی چې هغه وایې زما رب یواځی الله جل جلاله دی الله تعالی دا قصه په سورة مؤمن کې ذکر کړی :

وَقَالَ رَجُلٌ مُؤْمِنٌ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَاءَكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ رَبِّكُمْ (سورة غافر) آیت ۲۸)

---

(۱) کنزالعمال جلد ۶ صفحه ۳۰۶)
(۲) کنزالعمال جلد ۶ صفحه ۳۰۲)
(۳) مسند جلد ۴ صفحه ۳)

سیف لودین کتابتون

ژباړه :یو مسلمان سړی چی دفرعون له خلکو څخه وو اوخپل ایمان یې پټ ساتلی وو ویل آیاتاسو داسی څوک وژنی چی هغه وایې زمارب الله ﷻ دی اودخپل نبوت اورسالت ښکاره دلیلونه یې تاسو ته راوړی دی .

په مسندبزار اودلائل ابی نعیم کې له محمدبن علی ؓ څخه روایت سوی دی چی یوه ورځ علی کرم الله وجهه په خطبه کې پوښتنه وکړه چی ترټولو خلکو ډیر غیرت مند اوډیر غښتلی څوک دی ؟ خلکوویل ته یې علی ؓ وفرمایل ، زماحال خودادی چی چازما مقابله کړی ده ماله هغه څخه بدله اخیستی ده ،

خوترټولو ډیر زیات بهادراوغیرت مندابوبکرصدیق ؓ وومایوځل ولیدی چی قریشو رسول الله ﷺ وهی ورته ویل یې چی(انت جعلت الالهة الهاً واحداً)آیاته داټولو خدایان یو خدا ی گرزوی ، دهیچادا همت نه وو چی هغه خواته ورسی اونبی کریم ﷺ له دښمنانو څخه خلاص کړی ، ناڅاپه ابوبکر صدیق ؓ راغلی اودښمنانوپه مینځ کې ننوتی یوه ته یې سوک ورکی اوبل ته یې چپیړه پرمخ ورکه اوداسی خبره یې ورته وکوله لکه یوه مومن سړی چی فرعون اوهامان ته کړی وه ابوبکرصدیق ؓ ورته وویل أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ بخاری)اوابوبکر ؓ پرهمدې مهال کفاروته وویل وَيْلَكُمْ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ)افسوس دی آیاتاسو داسی سړی وژنی چی هغه وایې زمارب الله ﷻ دی)

علی ؓ داوویل اوپه ژړاسو اووې فرمایل زه تاسوته په الله ﷻ باندی قسم درکوم اوپوښتنه درڅخه کوم چی دفرعون په کورنۍ کې چی کوم مسلمان وو هغه افضل وو اوکه ابوبکرصدیق ؓ خلکوهیڅ هم ونه ویل وروسته علی ؓ وویل په الله ﷻ دې زماقسم وی چی دابوبکرصدیق ؓ یوساعت دفرعون دکورنۍ ترمسلمان ډیرغوره دی اوپه ډیرودرجو ترهغه ښه دی ځکه هغه خپل ایمان پټ ساتلی وو اوابوبکر ؓ خپل ایمان ښکاره کړی وو (فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۲۹ باب مالقی النبی ﷺ واصحابه من المشرکین بمکة)

دعبدالله بن عمرو بن العاص ؓ په یوروایت کې راغلی دی او امام بخاری په خلق افعال کې اوابویعلی اوابن حبان روایت کړی دی وایې کله چی نبی کریم ﷺ له دښمنانو څخه لیری سو نونبی کریم ﷺ وفرمایل (وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا أُرْسِلْتُ إِلَيْكُمْ إِلَّا بِالذَّبْحِ) زمادی په هغه پاک ذات قسم وی دچاپه لاس کې چی زماروح دی زه ستاسو دحلالولو لپاره راليږل سوی یم (فتح الباری باب مالقی النبی ﷺ واصحابه من المشرکین بمکة)

اوپه دلائل ابی نعیم بیهقی اوسیرة ابن اسحاق داسی راغلی دی : چی دنبی کریم ﷺ دې خبره پر کفاروباندی دومره بدآثروکي چی هرسړی پرخپل ځای باندی حیران ودریدی (۱)

(۱) الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۱۴۴ ، سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۹۸)

سیف لودین کتابتون

ځکه دوئ په دې پوهيدل څه چې محمد ﷺ وايې هغه خامخا کيږي .

(۶) په مسند ابی یعلی او مسند بزار کې له انس ؓ څخه په صحیح سند روایت سوی دی چې يو ځل قريشو نبی کريم ﷺ دومره ووهی چې بيهوښه سو ابوبکر صديق ؓ د مرستی لپاره راغلی قريشو نبی کريم ﷺ پريښودی او ابوبکر ؓ يې راوپرځوی په مسند ابی يعلی په سند حسن سره له اسماء بنت ابی بکر ؓ څخه روایت سوی دی ، چې دومره يې ووهی چې ټول سرئې مات سو ابوبکر صديق ؓ د زخمونو ډيروالی له وجې سر ته لاس نه سو ور وړلای (۱)

(۷) له عثمان بن عفان ؓ څخه روايت سوی وايې چې يوه ورځ ما نبی کريم ﷺ د بيت الله شريف په طواف کولو کې وليدی ، هغه مبارک طواف کوی او عقبه بن ابی معيط او ابوجهل او اميه بن خلف په حطيم کې ناست وو کله چې نبی کريم ﷺ د دوئ مخ ته تيريدی نو دوئ بد ردورته وويل نبی کريم ﷺ خپل طواف کوی د دوئ وخوا ته بيا تيرسو دوئ بيا هم هغسې بد ردورته وويل کله چې دريم ځل تيريدی بيايې ناوړه خبری ورته وکولې په دريم ځل د نبی کريم ﷺ د مخ مبارک رنګ بدل سو او ودريدی او دوئ ته يې وويل : چې قسم په الله عزوجل تاسو نه منع کيږی ترڅو چې د الله عزوجل ډير ژر د رباندی نازل نه سی ،عثمان ؓ فرمايې چې په دغه وخت کې داسې څوک پاته نه سو چې هغه نه وی لړزيدلی نبی کريم ﷺ داو فرمايل او د کور خواته ولاړی او موږ د هغه په شاپسی روان سو په هغه وخت کې يې موږ ته داو فرمايل :

ابشروا فان الله مظهر دينه ومتم کلمته وناصر دينه ان هؤلاء الذين ترون ممن يذبح بايديکم عاجلا فوالله لقد رأيتهم ذبحهم الله بايدينا (اخرجه الدارقطنی) (۲)

خوشاله سی الله عزوجل به خامخا خپل دين ته بری ورکوی او خپله خبره به پوره کوی او د خپل دين مرسته به کوی او کوم خلک چې تاسو وينی ژر دی چې الله جل جلاله به دوئ ستاسو په لاسو حلال کی عثمان ؓ فرمايې چې قسم په الله جل جلاله موږ وليدل چې هغه خلک الله جل جلاله زموږ په لاسو حلال کړه دا روايت په دلائل ابی نعيم کې هم ذکر دی او مختصراً په فتح الباری جلد ۲ صفحه ۱۲۸ کې يې هم يادونه سوی ده ..

د عبدالله بن مسعود ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يوه ورځ په حرم کې لمونځ کوی او ابوجهل او د هغه خاص ملګری (۳) هم هلته ناست وو ابوجهل (۴) وويل داسې څوک

(۱) فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۲۹)

(۲) عيون الاثر جلد ۱ صفحه ۱۰۴)

(۳) د ابوجهل له احبابو څخه مراد هغه خلک دی د کومو نومونه چې نبی کريم ﷺ په ښيرا کې ياد کړل لکه چې د دې روايت په پای کې ياد سوی دی او په مسند بزار کې په همدی تصريح سره ياد سوی دی (فتح الباری جلد ۷ صفحه ۳۰۱)

(۴) په صحيح بخاری کې د ابوجهل د نامه يادونه نسته د ا يادونه د مسلم په روايت کې سته ، فتح الباری)

سیف لودین کتابتون

نسته چې دفلانی داوښ لری راوړی اوکله چې محمد ﷺ پرسجده سی نوهغه لری دده پرشا باندی کیږدی په دغه وخت کې (۱) په قوم کې چې ترټولو ډیربدبخت وو یعنی عقبه بن ابی معیط هغه ولاړسو اولری یې راوړی اودنبی کریم ﷺ په شاباندی یې واچوی، عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایې چې ماداحال په خپلوسترګولیدی خوهیڅ می هم نه سو کولای اومشرکین چې یوبل ته وګوری خاندی اودخندادلاسه یوپربل واوړی په دې وخت کې فاطمة الزهراء رضی الله عنها چې دڅلورو یاپنځوکالووه په منډه راغله اودنبی کریم ﷺ څخه یې لری وغورزوی نبی کریم ﷺ دسجدی څخه سرراپورته کی (۲) اوقریشوته یې درې ځله ښیراوکړه پرقریشوداښیراډیره بده ولګیده ځکه دقریشوداعقیده وه (۳) چې په دې ښارکې دعاقبلیږی، وروسته نبی کریم ﷺ خاص دابوجهل اوعقبه بن ربیعة اوشبیة بن ربیعه اوولیدبن عبته اوامیه بن خلف اوعقبه بن ابی معیط (۴) اوعمارة بن الولید نومونه یادکړل اوښیرایې ورته وکړه چې دهغوډیر دبدر په غزاکې ووژل سول دبخاری شریف کتاب الطهارة اوکتاب الصلوة په یو روایت کې راغلی دی چې دکالو دپاکۍ حکم یعنی ﴿ثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ آیت (۵) له دې وروسته نازل سو له عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل زه ده دووبدترینو همسایګانو ترمینځ اوسیدم یوابولهب اوبل عقبه بن ابی معیط و دواړو به زمادسرای دروازی ته ګندګی راوړه اوغورزوله به یې

دضماد بن ثعلبه رضي الله عنه اسلام راوړل؛

ضمادبن ثعلبه ازدی دجاهلیت په وخت کې دنبی کریم ﷺ له دوستانو څخه دی په دم وچوه به یې دخلکوعلاج کوی له بعثت وروسته مکی ته راغلی ده یوه دله خلک ولیدل چې په نبی کریم ﷺ پسی ده څوک ورته جادوګر اوڅوک لیونی اوپاګل ورته وایې اوڅوک بیابل څه ضمادوایې زه دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسوم ماورته وویل چې زه دلیوتوب علاج کولای سم ته وماته دعلاج کولواجازه راکړه ؟ کیدای سی الله جل جلاله تاته زماپه لاس شفادرکړی نبی کریم ﷺ په ځواب کې داسی راته وویل (الحمدلله نحمده ونستعینهٗ ونستغفره

(۱) په حقیقت کې خوابوجهل ترټولوډیر بدبخت وو ځکه دیٔ ددې امت فرعون دی مګرپه دغه پیښه کې ترټولوډیر بدبخت اوبدنصیبه عقبه بن ابی معیط دی ځکه ابوجهل خوفقط هغه ته وویل اومعیط بد بخت خوداکارپه خپله وکوی اوښکاره خبره ده چې ترویونکی دکونکي جرم سخت دی لکه قدارچې دخلکوپه خبرو دصالح علیه السلام اوښه حلاه کړله کماقال الله تعالی (اذانبعث اشقاها) الایه په دې وجه الله تعالی ترټولولوی بدبخت وده ته وویل

(۲) په صحیح مسلم کې راغلی دی چې دنبی کریم ﷺ دښیراپه اوریدوسره ددویٔ خنداګانی وچی سوی اودنبی کریم ﷺ له ښیراډیر سخت وویریدل (فتح الباری)

(۳) په قریشوکې بعض شیان دابراهیم علیه السلام دشریعت څخه پاته وو له دې وجی کیدای سی چې داعقیده هم چې په حرم مکه کې دعاقبلیږی دشریعت ابراهیمی څخه پاته وی)

(۴) عقبه بن ابی معیط دنوم یادونه په مسندابی داؤدطیالیسی کی راغلی (فتح الباری جلد ۱ صفحه ۳۰۲)

(۵) فتح الباری جلد ۸ صفحه ۵۲۱، زرقانی جلد ۱ صفحه ۲۵

سیف لودین کتابتون

ونعوذبالله من شرور انفسنا من یهده الله فلامضل له ومن یضلله فلاهادی له وانی اشهدان لااله الاالله واشهدان محمداً عبده ورسولهٗ) ژباړه :هرڅه ثنااوصفت الله ﷻ لری دی موږ ټول دالله ﷻ ثنا اوصفت بیانوو اودهغه څخه مرسته غواړو اوله هغه بخښنه غواړو اودخپلونفسوله شرڅخه الله ﷻ ته پناه وروړو الله ﷻ چی چاته لارښونه وکوی دهغه بیلاری کونکي څوک نسته اوزه شاهدی ورکوم چی محمد ﷺ دالله ﷻ بنده اودهغه حق رسول دی ﷺ ،

ضمادوایې ماورته وویل چی ته خوداخبری دویم ځل بیاراته ووایه قسم په الله ﷻ ما ډیر شعرونه اوریدلی دی اودکاهنانو جادوګرانو ډیرمنترونه می اوریدلی دی مګر والله دا سی کلام خوماهیڅ کله هم نه دی اوریدلی ، داکلمات خودوضاحت په دریاب کې پای ته رسیدلی دی اوزه هم داوایم (وانی اشهدان لااله الاالله وحده لاشریک له واشهدان محمداعبده ورسوله ضماد رضی الله عنه پرهمدې ځای په اسلام مشرف سواوخپل قوم ته ستون سو له نبی کریم ﷺ سره یې په لاس بیعت وکوی (١) حافظ عراقی فرمایلی دی

ثُمَّ اَتَی ضِمَادٌ وَهُوَ الاَزْدِی .... يَسْتَبِيْنُ اَمْرَهُ بِالنَّقْدِ

دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه پنځه یانه کاله وروسته ضمادبن ثعلبه ازدی رضی الله عنه دحالاتو د معلومولولپاره مکی ته حاضرسو (کذافی الشرح)

مَاهُوَ اِلاَّ اَنَّ مُحَمَّدًا خَطَبَ .... اَسْلَمَ لِلْوَقْتِ وَذَهَبَ

نبی کریم ﷺ چی دضمادپه مخکې خطبه وویله ضماد رضی الله عنه له اوریدوسره سم په دغه وخت کې اسلام راوړی اوخپل قوم ته بیرته ولاړی

داسلام ځانګړی اوسخترین بدبخته دښمنان ؛

دالله ﷻ دتوحیدپه ښکاره بیانولوسره خوپه عامه توګه دمکی ټول خلک دنبی کریم ﷺ دښمنان سو خوکوم خلک چی دنبی کریم ﷺ په دښمني کې اوج ته رسیدلی وو دهغو نومو نه په لاندی ډول دی :

(١) ابوجهل بن هشام (٢) ابولهب بن عبدالمطلب (٣) اسودبن عدیغوث (۴) حارث بن قیس (۵) ولیدبن مغیره (۶) امیه بن خلف (٧) ابی بن خلف یعنی دواړه دخلف زامن دی (٨) ابوقیس بن الفاکه (٩) عاص بن وائل (١٠) نضر بن حارث (١١) منبه بن الحجاج (١٢) زهیر بن ابی امیه (١٣) سائب بن صیفی (١۴) اسود بن عبدالاسد (١۵) عاص بن سعید (١۶) عاص بن هاشم (١٧) عقبه بن ابی معیط (١٨) ابن الاسد (١٩) حکم بن العاص (٢٠) عدی بن حمراء په دوئ کې ډیر دنبی کریم ﷺ همسایګان وو اوډیرمشران اومخورخلک وو اودنبی کریم ﷺ په دښمني کې ډیرمخ ته تلی ووشپه اوورځ به یې

---

(١) الاصابه جلد١صفحه ٢١٠،، البدایه والنهایه جلد٣صفحه ٣۶)

سیف لودین کتابتون

ددې کارلپاره يوه کړی وه ابوجهل اوابولهب اوعقبه بن ابی معيط دادرې تنه ترټولو مشران وو (١) دالله تعالی داعادت شريف دی چی کله يوشئ پيداکي نودهغه ضداومقابل هم پيداکوی لکه چی الله تعالی فرمايې: وَمِن كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (٤٩ آيت سورة الذاريات) ژباړه: موږ له هرشئ څخه دوه جوړه پيداکړی دی ددې لپاره چی تاسو دالله تعالی پوره قدرت وپيژنی .

لکه څنګه درڼا په بدل کې تياره دی اودلوړه په بدل کې کښته دی دغه رنګه دخيرپه مقابل کې شر اودلاربښوونی په مقابل کې لاروركی اودملائکه ووپه مقابل کې شيطانان پيداکړی دی دحق اوباطل مقابله روانه ده اوخلک په خپله خوښه اواختيارسره يوه خوامنی ، داسی نه دی چی څوک په منلومجبوردی، که چيری يې يوائی حق اودهغه ملګری پيداکړی وای اوباطل ييخی شتون نه درلودای نوخلک به دحق په قبلولومجبوره ووااوداکار دحکمت خلاف دی شريعت هيڅ کله دانه غواړی چی خلک په زوره اسلام راوړی لکه چی الله تعالی فرمايې: وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَن فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا (سورة يونس آيت ٩٩) ژباړه: که ستارب عزوجل غوښتلای نودځمکی ټولوخلکوبه ايمان راوړی وو .

په همدې وجه الله عزوجل چی کله أنبياء عليهم السلام پيداکړل نوددوئ په مقابل کې يې شياطين الانس والجن هم پيداکړه ددې لپاره چی دنيادحق اوباطل جګړه اودسمی لاری اوچپی لاری دجنګ اومقابله په خپلوسترګووينی اوبياپه خپله خوښه اواختيارسره دحق او باطل څخه کوم لوری چی غواړی هغه ومنی په دې آياتوکې وهمدې مضمون ته اشاره دی وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ (سورة الانعام آيت ١١٢)

ژباړه: اودغه رنګه موږدهرنبی عليه السلام لپاره دښمنان پيداکړی دی څه شيطانان له انسانانو څخه دی اوڅه بياله پيريانوڅخه دی .

نولکه څنګه چی دهرفرعون دپاره يوموسی وی دغه رنګه دهرموسی لپاره يوفرعون هم خامخاوی ، دمنطقين منل سوی قانون دی وايې چی دقضيه عکس لازم اوصادق وی .

درکارخانه عشق ازکفرناگزيراست: دوزخ کی رابسوزدگربولهب نباشد

څکه موږدنبی کريم ﷺ دخاصودښمنانو لنډه پيژندنه دلوستونکومخ ته وړاندی کوو،

لومړی سرتمبه اوبدبخت دښمن ابوجهل بن هشام؛

ابوجهل دنبی کريم ﷺ دأمت فرعون دی ده دنبی کريم ﷺ په دښمنی کې ټول ژوندتيرکي ، دابوجهل ددښمنی څه پيښي تيری سوی دی اوڅه په راتلونکی کی راځي دمرګ په وخت کې چی ده کوم پيغام پری ايښی دی دهغه تفصيل به انشاءالله دبدردغزاپه بيان کې

(١) الخصائص الکبری جلد ١ صفحه ١٣٤)

سیف لودین کتابتون

راسې له هغه ځخه لوستونکوته دابوجهل ددښمنۍ پوره اندازه معلومېږي .
دابوجهل اصل نوم ابوالحکم دی رسول الله ﷺ دابوجهل لقب ورکی ، کمافي فتح الباري باب ذکر النبي ﷺ من يقتل ببدر ..
ابوجهل به ویل زمانوم عزیز کریم دی یعنی عزت منداومهربان مشر ، دده ددې ویناپه ردکې داآیت نازل سو :

إِنَّ شَجَرَةَ الزَّقُّومِ (٤٣) طَعَامُ الْأَثِيمِ (٤٤) كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ (٤٥) كَغَلْيِ الْحَمِيمِ (٤٦) خُذُوهُ فَاعْتِلُوهُ إِلَى سَوَاءِ الْجَحِيمِ (٤٧) ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ رَأْسِهِ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيمِ (٤٨) ذُقْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْكَرِيمُ (٤٩) سورة الدخان

یقینابه دزقوم درخته دمجرم خوراک وی دګرمو اوبوپه څیر به په نس کې خوټېږي او ملائکوته به حکم وسي چې دی ونیسی اوددوزخ مینځ ته یې راولی بیاورته پرسرباندی ګرمی اوبه واچوی اوده ته وواياست چې وڅکه داعذاب یقیناته عزیزاوکریم وی)

دویم سختترین دښمن ابولهب

دابولهب اصلی نوم عبدالعزی بن عبدالمطلب دی اوابولهب یې کنیه دی په خپلوی کې درسول الله ﷺ سکه آکادی په لومړي ځل چې کله رسو ل الله ﷺ قریش راټوله کړه اودالله ﷻ پیغام یې ورته ورسوی نوترټولومخکې ابولهب دنبی کریم ﷺ تکذیب وکړ داسې یې ورته وویل : تبالک سائر الیوم الهذا جمعتنا : الله تعالی دې تاهلاک کی ایاتامونږ ددی لپاره راټول کړي یو.
له دې وروسته تبت يدا ابی لهب سوره نازل سو ابولهب ډیرشتمن وو کله چې دی دالله ﷻ له عذاب وویرول سو نوده وویل که زمادوراره خبره حقه وه نودقیامت په ورځ به مال اواولاد په فدیه کې ورکړم اوله عذابه به ځان خلاص کړم نوالله ﷻ وفرمایل (مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ) دده ښځه ام جمیل بنت حرب یعنی دابوسفیان بن حرب خورهم له نبی کریم ﷺ سره سخته دښمني درلوده دشپی به یې په لارکې ورته اغزی اچول (تفسیرابن کثیر وروح المعانی) دابن اسحق په روایت کې راغلی دی ، چې کله ام جمیل خبره سوه چې زمااوزمادمیړه په اړه داسورت نازل سوی دی نویوکاڼی یې رااخیستی اودنبی کریم ﷺ دویشتلولپاره په منډه راغله نبی کریم ﷺ اوابوبکر صدیق رضی الله عنه دواړه په مسجدحرام کې ناست وو ام جمیل چې کله هلته ورسیده نوالله تعالی ددې پرسترګوداسې پرده واچوله چې یوائې ابوبکرصدیق رضی الله عنه یې لیدی نبی کریم ﷺ یې نه ولیدی ، ام جمیل له ابوبکرصدیق رضی الله عنه ځخه پوښتنه وکوله چې ستاملګری چیری دی زه خبره سوی یم چې دئ زمابدی بیانوی په الله ﷻ قسم که هغه دلته وای نوپه همدې کاڼی به می ویشتلی وای ،
اوقسم په الله ﷻ زه ډیره لویه شاعره یم ، وروسته یې داشعرولوستی :

سیف لودین کتابتون

مُذَمَّمًا عَصَيْنَا .... وَاَمْرُهُ اَبَيْنَا .... وَدِيْنُهُ قَلَيْنَا

موږ دبد نافرماني وكوله ، اودده له حكم څخه موسرغړونه وكړه ، اودده له دين سره موبغض وكوى ، دې له ډير دښمنى څخه ونبى كريم ﷺ ته دمحمد ﷺ پرځاى مذمم وويل ، دمحمد ﷺ معنى دى ستايل سوى اودمذمم معنى مذموم ، بد .
قريشوچى كله ونبى كريم ﷺ ته مذمم وويل نونبى كريم ﷺ وفرمايل تاسوتعجب نه كوى چى الله تعالى ددوئ بدله ماواړول دوئ كه هرڅه بدردوايې خوزه ستايل سوى يم . (١)
اوپه يوبل روايت كې راغلى دى :چى ابوبكر صديق ؓ چى كله ام جميل وليده چى دنبى كريم ﷺ وخواته راروانه ده نوابوبكرصديق ؓ ونبى كريم ﷺ ته وويل يارسول الله ﷺ ام جميل مخامخ راروانه ده اوزه پرتاويريږم ؟ نبى كريم ﷺ وفرمايل (انهالن ترانى) داهيڅ كله مانه سى ليداى . اودقرآن كريم څوآيتونه ولوستل (٢) (تفسيرابن كثير سورة تبت)
په مسند بزاركې له عبدالله بن عباس ؓ په حسن سند روايت سوى دى چى كله ام جميل ابوبكرصديق ؓ ته وويل ته دده تصديق كونكي يې كله چى ام جميل ولاړه نوابوبكر ؓ وويل يارسول الله ﷺ ام جميل لكه چى ته ونه ليدلى نبى كريم ﷺ وفرمايل : دهغې ترتګه پورى زه يوى ملائكى پټ كړى وم (٣)
دبدرله پيښى اووه ورځى وروسته په ابولهب باندى يوه زهرناكه دانه ښكاره سوه چى په هغه دانى سره هلاك سو دكورنۍ خلكوله دې ويرى چى دده ناروغى موږته راونه رسيږى وده ته لاس هم نه وروړى ، تردرو ورځو پورى دده مړى پروت وو دشرم اوبدنامى له وجى يې څوحبشى مزدوران راوغوښتل هغوئ پورته كى اويوه كنده يې ورته وكيندله اوپه لرګويې دابولهب مړى ور واچوى اوپه خاورو اوډبرويې هغه كنده ډكه كړه ، دا دابولهب په دنياكې ذلت اورسوايې وه اودآخرت خويې هيڅ پوښتنه مه كوه (اجارنا الله من ذلك) دابولهب درې زامن وو عتبه ، معتب ، عتيبه ،لومړى دوه دمكى په فتح كې په اسلام مشرف سو اوعتيبه هغه چى دابولهب په خبره يې دنبى كريم ﷺ لورطلاق كړى وه او وروسته يې په نبى كريم ﷺ پورى ټوكى اوپسخند هم ووهى ، دنبى كريم ﷺ دښيرا له وجى هلاك سو ، دمكى دفتح په ورځ نبى كريم ﷺ عباس ؓ ته وويل ، ستاوريرونه عتبه اومعتب چيرى دى تاته خوبه وى ليدلى ، عباس ؓ وويل يارسول الله ﷺ كيداى سى يوځاى پټ سوى وى نبى كريم ﷺ ورته وفرمايل دوئ پيداكه اوماته يې راوله عباس ؓ ددوئ په لټون پسى ولاړى اودعرفات په ميدان كې يې پيداكړل ——————

(١) سيرة ابن هشام جلد ١ صفحه ١٣٢)

(٢) كماقال الله تبارك وتعالى . وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ حِجَابًا مَسْتُورًا (٤٥) سورة الاسراء)

(٣) فتح الباري جلد ٨/ ص ٥٢)

اودنبی کریم ﷺ په خذمت کی یې حاضر کړل نبی کریم ﷺ د اسلام بلنه ورکړه دوئ هم سمد ستی اسلام ومنی اوله نبی کریم ﷺ سره یې په لاس بیعت وکی نبی کریم ﷺ وفرمایل ، مادخپل آکادا دواړه زامن له الله تعالی غوښتی وو الله ﷻ دوئ دواړه ماته راکړل .

دریم ناپوه دښمن امیه بن خلف الجمحي :

اُمیه بن خلف به نبی کریم ﷺ ته ښکاره ښکنځل کول اوناوړه خبری به یې ورته کولی اوکله چی به دده وڅنګ ته تیریدی نوپه سترګوبه یې اشاری ورته کولی په دې هکله دا آیت نازل شو :

وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ (١) الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ (٢) يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ (٣) كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ (٤) وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ (٥) نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ (٦) الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ (٧) إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ (٨) فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ (٩) (سورة الهمزة

عذاب دی د هغه سړی لپاره چی په غیاب کې عیب تړی اومخامخ بدوایې مال جمع کوی اوهغه په واروار شمیری آیادده داګمان دی چی دده مال به له ده سره تل وی هیڅ کله داسی نه دی خامخا به حطمه ورغورزی اوته نه یې خبرچی حطمه څه ته وایې حطمه دالله ﷻ هغه بل کړل سوی اور دی چی په زړوباندی بلیږی رښتیاهم دااوربه په دوئ باندی چاپیروی اودوئ به داور په اوږدو اوږدو ستنوکی تړل کیږی .

امیه بن خلف دبدرپه غزا کې دخبیب ؓ یا بلال ؓ په لاس ووژل سو (۱)

څلورم دښمن اودنبي کریم ﷺ په لاس وژل سوی اُبي بن خلف

ابی بن خلف هم دخپل وروامیه بن خلف پرپله روان وو یوه ورځ یې یوزوړ هډوکي را اخیستی وو اونبی کریم ﷺ ته راغلی اوهغه هډوکی یې په لاس کې ومروړی اودهغه خاوره یې په هواکې وپاشله اونبی کریم ﷺ ته یې وو ویل آیا الله ﷻ به دادویم ځل راژوندی کوی؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل ، همداهډوکي اوستا هډوکی له میده کیدو وروسته به هم الله ﷻ راژوندی کوی اوتابه واورته اچوی ، په دې اړه دا آیت نازل سو :

وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ (٧٨) قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنْشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ (٧٩) الَّذِي جَعَلَ لَكُمْ مِنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَا أَنْتُمْ مِنْهُ تُوقِدُونَ (٨٠) أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ بَلَى وَهُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ (٨١) إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ (٨٢) فَسُبْحَانَ الَّذِي بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (٨٣) سورة يس)

ژباړه : اودوئ زموږ دپاره یومثال وړاندی کوی اوخپل زوکړه یې هیره کړی ده دئ وایې چی دازاړه هډوکی به څوک راژوندی کوی ، ته ورته ووایه چاچی دااول ځل پیداکړی دی هم هغه ذات به یې بیاراژوندی کوی اوهغه په ټول مخلوق خبردی هغه الله ﷻ چی له شنی درختی څخه یې اورپیداکړی دی اوتاسوله هغې څخه اور بلوی آیاهغه الله ﷻ چی اسمان اوځمکه یې پیداکړ ی دی په دې باندی قادرنه دی چی ددوئ په شیر خلک دویم ځل پیداکي ولی نه دی هغه خولوی پیداکونکی اوعالم ذات دی دهغه شان دادی چی دکوم شئ دپیداکولواراده چی وکوی هغه ته وایې شه ؛ نوهغه شئ سمدستی پیداسی اوپاک دی هغه ذات چی دهغه په لاس کې دهرشئ واک دی اوتاسو ټول به هغه ته بېرته ورځی

(۱) ابن هشام جلد۱ صفحه ۱۲۴

سیف لودین کتابتون

ابی بن خلف داحد په غزاکې درسول الله ﷺ په لاس ووژل سو تاریخ ابن اثیر جلد ۲ صفحه ۲۶، ابن هشام جلد ۱ صفحه ۱۲۶ ذکر من قتل من المشرکین یوا حد)

پنځم د اسلام دستر لاربنود ﷺ سخترین دښمن عقبه بن ابی معیط ؛

عقبه بن ابی معیط دابی بن خلف نژدی ملګری و یوه ورځ عقبه و نبی کریم ﷺ ته راغلی او د نبی کریم ﷺ په مخکې کینستی د نبی کریم ﷺ خبری یې اوریدی اُبی چی کله خبر سو نو سمدستی عقبه ته راغلی ورته وې ویل اې عقبه زه خبر سوی یم چی ته محمد ﷺ ورغلی وی او هغه ته نژدی ناست وی او د هغه خبری دې اوریدلی دی، قسم په الله ﷻ تر څو چی ته د محمد ﷺ پر مخ مبارک لاړی تونه کی تر هغه وخت زه له تا سره نه خبری کوم او نه به ستا و مخ ته ګورم او ستا ورنګ ته کتل پر ما حرام دی عقبه بدبخت هم سمدستی ولاړ سو او د نبی کریم ﷺ په مخ مبارک لاړی تو کی، په دې اړه دا آیت نازل سو : وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا (۲۷) يَا وَيْلَتَىٰ لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا (۲۸) لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنْسَانِ خَذُولًا (۲۹) وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا (۳۰) وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا (۳۱) سورة الفرقان)

ژباړه : او هغه ورځ دریاد کړه چی ظالم انسان به د افسوز او پښیمانتیا څخه خپل لاس سره مښی او دابه وایې افسوس کاشکی ماله رسول الله ﷺ سره لاره یوه کړی وای او افسوس دی چی فلانی می خپل دوست نه وای جوړ کړی او دې بدبخت خوزه د الله ﷻ له لاری واړو لم او شیطان د انسان بیلاری کونکي او رسو ل الله ﷺ ویل اې رب زما قوم خو قرآن پریښود ی اې زمانبی ته مه خفه کیږه ما د هر نبی لپاره د غه رنګه مجرمان دښمنان پیدا کړی دی، او ستا رب د لاربښوونی او مرستی لپاره کافی دی ..

عقبه د بدر په غزاکې بندی سو او د صفرا په نامه ځای ته چی فوځ ورسیدی سرځنی غوځ سو (ابن اثیر جلد ۲ صفحه ۲۷)

شپږم سخترین او بدبخت دښمن ولید بن مغیره ؛

ولید بن مغیره به دا ویل چی ډیره د تعجب خبره ده چی پر محمد ﷺ باندی وحی نازله سوه زه او ابو مسعود ثقفی پریښود ل سو سره له دې موږ د واړه د خپل قوم ډیر عزتمند او مشران یو زه د قریشو مشر یم او ابو مسعود د ثقیف قبیلی مشر دی، په دې باره کې دا آیت نازل سو :

وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ (۳۱) أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ (۳۲) سورة الزخرف)

ژباړه : دا کفار وایې چی دا قرآن د مکی او طائف څخه په لوی سړی باندی ولی نازل نه سو آیا دا خلک د الله ﷻ خاص رحمت نبوت د خپلی خوښی برابر ویشل غواړی موږ د دوئ

سیف لودین کتابتون

ددنیا ژوندپه خپله خوښه تقسیم کړی دی اوپه خپله خوښه مویوپربل باندی لوړوالی ورکړی دی ددې لپاره چی یواوبل تابع کی اودآخرت نعمت خوددنیاترنعمتوپه ډیرو درجوغوره دی نوهرکله چی ددنیوی ژوندویش ددوي په واک نه دی نوداخرت دنعمت ویش به څنګه ددوئ په خوښه کیږی (ابن هشام جلد۱ صفحه ۱۲۶)

یعنی دنبوت اورسالت ورکړه په پیسواودواک اوددنیاپه عزت اومرتبه سره نه دی ، یوه ورځ ولیدبن مغیره اوامیه بن خلف اوابوجهل اوعتبه اوشیبه دربیعه زامن اودقریشو نورمشران داسلام په اړه دځوپوښتنولپاره دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسول ، نبی کریم ﷺ ته دمسجدمؤذن چی په سترګوړوندوودځه پوښتنی لپاره راغلی ، اوداخلک خودمکی مشران اوسردارن و نبی کریم ﷺ په دې امیدچی که دوئ اسلام راوړی نوددوئ په وجه به په زرګونوخلک مسلمانان سی ، ځکه یې هغه ړانده مؤذن ابن ام مکتوم ته توجه ونه کړه اودده په بیځایه پوښتنه دنبی کریم ﷺ پرمخ مبارک باندی څه دخفګان نښی ښکاره سوی ځکه مؤذن ته په کاروو چی دخبرودپای ته رسیدوانتظاریې کړی وای مګر دالله ﷻ رحمت په جوش کې راغلی اودا آیتونه نازل سو :عَبَسَ وَتَوَلَّى (۱) أَنْ جَاءَهُ الْأَعْمَى (۲) وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّى (۳) أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرَى (۴) أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَى (۵) فَأَنْتَ لَهُ تَصَدَّى (۶) وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّى (۷) وَأَمَّا مَنْ جَاءَكَ يَسْعَى (۸) وَهُوَ يَخْشَى (۹) فَأَنْتَ عَنْهُ تَلَهَّى (۱۰) كَلَّا إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ (۱۱) فَمَنْ شَاءَ ذَكَرَهُ (۱۲) سورة عبس)

ژباړه نبی کریم ﷺ دیوړانده په راتګ سره تندی تریو کی اومخ یې وګرزوی تاته څه معلومه دی کیدای سی داړوند ستاپه ښوونه سره پاک اوسپیڅلی سی اوستاپه لار ښوونه دته څه ګټه ورسیږی اوکوم سړی چی بی پروایې وکړه هغه ته دې مخ وګرزوی سره له دی که هغه پاک نه سی پرتاباندی هیڅ الزام نسته اوکوم سړی چی په دین کې ستاخواته په منډه راغلی اوله الله ﷻ ویریدی ته له هغه سره لاپروایې کوی

ددې آیت له نازلیدو وروسته به دنبی کریم ﷺ داحالت وو چی کله به عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنه راغلی نونبی کریم ﷺ به خپل پټوورته خپورکی اودابه یې ورته فرمایل (مرحبا بمن فيه عاتبني ربي) ښه راغلی هغه سړی چی دده په اړه ماته رب خبرداری راکړی دی .

اووم دابوجهل خاص دوست ابوقیس بن الفاکه :

ابوقیس هم نبی کریم ﷺ ته ډیر تکلیفونه رسولی دی دابوجهل خاص دوست اومرستندوئ ابوقیس دبدرپه جنګ کې حمزه رضي الله عنه په لاس ووژل سو (ابن اثیرجلد۲ صفحه۲)

اتم سخترین دښمن نضربن حارث :

نضربن حارث دقریشوله مشرانوڅخه دی دتجارت لپاره به فارس ته تلی اوهلته به یې دعجمو دباچهانوقصی اوتاریخ یادوی هغه به یې قریشوته بیانول ، اودابه یې ویل چی

سیف لودین کتابتون

محمد ﷺ خوتاسوته دعاد اوثمود قصی کوی خوزه بیا تاسوته درستم اواسفندیار او د فارس دپاچهانو قصی کوم ، خلکوته به داافسانی زړه راکښونکی معلومیدی (لکه دنن صباناولونه) خلکوبه داقصی اوریدی اوقرآن به يې نه اوریدی یوغزلچی مینځه هم واخیسته مینځی به خلکوته غزلی ویلی کله چی به يې ځوک ولیدی چی له اسلام سره مینه لری هغه ته به يې دغه مینځه وروليږله او ورته ویل به يې چی ودې سړی ته خوراک اوشراب ورکړه اوغزلی ورته ووایاست وروسته به يې ورته ویل موږچی څه درته وویل دابښه ووکه هغه شئ ښه دی کوم چی هغه ته محمد ﷺ بلنه ورکوی ، چی لمنځونه کوی اوروژه نیسی اودالله ﷻ ددښمنانوسرونه پری کوي په دې اړه داآیتونه نازل سو :

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ (٦) وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِ آيَاتُنَا وَلَّى مُسْتَكْبِرًا كَأَنْ لَمْ يَسْمَعْهَا كَأَنَّ فِي أُذُنَيْهِ وَقْرًا فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ (٧) سورة لقمان)

بعض خلک دالله ﷻ څخه غافل کونکی خبری اخلي ددې دپاره چی خلک دالله ﷻ له لاری واړوی اودالله ﷻ په آیاتوپوری وخاندی ددې خلکو لپاره رسواکونکی عذاب دی اودوئ ته چی کله زموږ آیاتونه ولوستل سی نودتکبر په وجه مخ واړوی لکه چی بیخی يې اوریدلی نه وی ګواکی دوئ په غوږودرانه دی دی په دردناک عذاب زیری ورکړه .

تنبیه :خوراک اوڅښاک اودښځوغزلی اورول اوپه دې چل سره خپل مذهب ته دخلکو میلان دکافرانوپخواني تګلاره ده دوئ په دې طریقه په ځانګړی ډول بیا نصاری بوخت دی اودوئ له همدې لاری مسلمانان بیلاری کوی خوچاته چی الله ﷻ څه ناڅه عقل اوپوهه ورکړی وی هغه ډیر ښه پوهیږی چی دالاردخدای دعبادت کونکونه دی بلکې دشهوت پرستودي،(نعوذبالله من ذلک) نضربن حارث دبدرپه جنګ کی ونیول سو اودنبی کریم ﷺ په امر سره علی رضی الله عنه دهغه سر پریکی (ابن اثیر جلد ۲ صفحه ۲۷)

نهم بدبخت عاص بن وائل سهمي :

عاص بن وائل سهمی ، دعمرو بن العاص رضی الله عنه پلاردی هم له هغه خلکوڅخه دی چی د نبی کریم ﷺ پوری به يې مسخری او پسخندوهی، دنبی کریم ﷺ چی څومره زامن پیداسو هغه ټول دنبی کریم ﷺ په ژوندکې وفات سو عاص بن وائل به ویل (ان محمداً ابتر لایعیش له ولد) محمد ﷺ ابتردی هیڅ هلک يې ژوندی نه پاته کیږی ، ابترهغه حیوان ته وایې چی لکۍ یه پری سوی وی ، دکوم سړی چی نه مخ ته اونه وروسته دنوم یادولو څوک پاته سی نوګویاهغه سړی لکۍ پریکړی سوی حیوان دی په دې باره کې دا آیت نازل سو (إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ (٣) سورة الكوثر) ستادښمن ابتر دی .

ځکه دنبی کریم ﷺ دنوم مبارک یادیدونکي خلک په لکاوو نه بلکې په میلیاردو دی

ترهجرت یوه میاشت وروسته یوځناور دعاص پښه وچیچله او هغه دومره وپړسیده چې داوبن دغاړې سره برابره سوه اوله دې سره دعاص ژوند هم پای ته ورسیدی (۱)

لسم او یوولسم داسلام سخت دښمنان نبیه او منبه دحجاج زامن ؛

نبیه او منبه هم دنبی کریم ﷺ سخت دښمنان وو ، دوئ چې به کله نبی کریم ﷺ ولیدی نو دا به یې ویل چې الله تعالی له ده پرته دپیغمبری دپاره بل څوک نه کې پیداچې دی یې راولیږی ، دوئ دواړه په بدر کې ووژل سو (۲)

دولسم سخترین غماز اسود بن مطلب ؛

اسود بن مطلب او دده ملګروچې به کله رسول الله ﷺ او صحابه کرام ؓ ولیدل نو سترګی به یې سره وهلی او ویل به یې چې داهغه خلک دی چې دځمکی پرمخ به پاچهان کیږی او دقیصر او کسری په خزانو به واکمن وی دا به یې ویل شپیلکی او چکچکی به یې کولی رسول الله ﷺ ښیراورته وکړه ،چې اې الله ﷻ اسود ړوند کی (چې په سترګو وهلو قادر نه وی) او دده زوی هلاک کی اسود خوسمدستی ړوندسو او زوی یې دبدر په غزا کې ووژل سو قریشو چې کله داحد دجنګ تیاری کوی اسود هغه وخت ناروغ و خلک یې دنبی کریم ﷺ دمقابلی دپاره راپورته کول خود جنګ ترراتلو مخکې مړسو (۳)

دریالسم دمسلمانانو دښمن اسود بن عبد یغوث ؛

اسود بن عبدیغوث د رسول الله ﷺ دماما زوی دی، دده دنسب لړۍ داسی دی، اسود بن عبدیغوث بن وهب بن مناف بن زهره ،

نوموړی هم دنبی کریم ﷺ له سختتو دښمنانو څخه وو کله چې به یې فقیران مسلمانان ولیدل نو ده به ویل، دغه خلک به دځمکی پرمخ پاچهان کیږی ،دکسری دپاچهی وارثان به وی ،کله چې به یې نبی کریم ﷺ ولیدی ده به ویل نن خو به له آسمان څه نوی خبرنه وی راغلی او داسی نوری ډیری بی معنی خبری به یې کولې (۴)

څورلسم داسلام دستررهبر ﷺ دښمن حارث بن قیس سهمی ؛

ونوموړی ته حارث بن عیطله هم ویل کیده عیطله یې دمور نوم دی ، قیس یې دپلار نوم دی حارث هم له هغه خلکو څخه دی چې په نبی کریم ﷺ او صحابه ؓ پوری به ټوقی او مسخری کولی ده به ویل چې محمد ﷺ خپل ملګری په دې خطا ایستلی دی چې له مرګه وروسته ژوندسته ده به قسم اخیستی ویل به یې (وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ (۲۴) سورة الجاثیه) موږ نه هلاکوی مګر زمانه مو هلاکوی .

(۱) ابن اثیر جلد ۲ صفحه ۲۶)
(۲) ابن اثیر جلد ۲ صفحه ۲۶)
(۳) ابن اثیر جلد ۲ صفحه ۲۷)
(۴) [illegible]

سیف لودین کتابتون

کله چې ددوئ پسخندونه اوټوقې ترحدتیرې سوې نو دنبي کریم ﷺ دتسلي لپاره دا آیتونه نازل سو : فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ (۹۴) إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ (۹۵) سورة الحجر)
دکوم شي حکم چې تاته درکړل سوی دی هغه ښکاره بیان کړه اوله دوئ څخه مخ واړه اوکوم خلک چې په تاپورې ټوقې کوي اوپسخندوهي دهغوئ لپاره موږ کافي یو ..
ترټولوزیات مسخرې اوټوقې کونکي داپنځه کسان وو ، (۱) اسودبن عبدیغوث (۲) ولیدبن مغیره (۳) اسود بن عبدالمطلب (۴) عاص بن وائل (۵) حارث بن قیس۔
یوه ورځ (۱)نبي کریم ﷺدبیت الله شریف طواف کوي جبرئیل ؑ راغلی نبي کریم ﷺ جبرئیل ؑ ته ددوئ دټوقواومسخرو شکایت وکړ په همدې وخت کې ولیدمخامخ راغلی ، نبي کریم ﷺ وجبرئیل ؑ ته وویل داولیددی ، جبرئیل ؑ دولیدشا ته اشاره وکړه ، نبي کریم ﷺ پوښتنه وکوله ، دادې څه وکول ، جبرئیل ؑ وویل ستادولیدڅخه کفایت وسو ، ترده وروسته اسودبن مطلب تیرسو ، نبي کریم ﷺ وفرمایل : دااسودبن مطلب دی ، جبرئیل ؑ یې سترګوته اشاره وکړه، نبي کریم ﷺ پوښتنه وکوله ، اې جبرئیل ؑ داڅه معنی ؟ جبرئیل ؑ وویل ستاداسود بن مطلب څخه ساتنه وسوه وروسته اسودبن عبدیغوث ددوئ خواته تیرسو جبرئیل ؑ دهغه وسرته اشاره وکړه اود مخکې په څیرېې څواب ورکړوروسته حارث تیرسو جبرئیل ؑ دهغه ونس ته اشاره وکړه اووې فرمایل ستاله ده څخه ساتنه وسوه ، ترده وروسته عاص بن وائل ددوئ و څنګ ته تیرسو جبرئیل ؑ دهغه وپښوته اشاره وکړه او وې ویل ستاله ده څخه ساتنه وسوه ،
دولیدقصه :ولیدیوځل دخزاعه قبیلې په یوسړي باندې تیرسو هغه غشي جوړول ناڅاپه په یوغشي باندې دولیدپښه ولګیده چې په هغه سره لږنرم ټپ پیداسو جبرئیل ؑ وهغه زخم ته اشاره کړې وه دولیدزخم وشوړیدی اودهمدې زخم له کبله مړسو ، **داسودبن عبدالمطلب قصه** اسود ترېوه اغزي لرونکي ونه لاندې ناست وو خپلو زامنوته یې ناري پیل کړې چې اې زمازامنوزماپه سترګوڅوک اغزي ننباسي زامنویې وویل موږته خوڅوک نه ښکاریږي په همدې خبروکې ړوندسو ، **داسودبن عبدیغوث** قصه جبرئیل ؑ دده وسرته اشاره کړې وه دده په ټول سرکې داني راوختلې اوپه همدې تکلیف کې مړسو ،د **حارث** ، په نس کې ناڅاپه داسې ناجوړې پیداسوه چې ترخوله یې غول راووتل (۲) اوپه همدې سبب مړسو ، د **عاص** بن وائل قصه : پرخره سپورووطائف

---

(۱) دارو ایت روح المعاني جلد ۱۴ صفحه ۱۸۸ کې راغلی دی مګر دبیت الله شریف دطواف قصه دابن اسحق له روایت څخه اخیستل سوې دې چې هغه حافظ ابن کثیر په خپل تفسیر کې دذکرسوي آیت لاندې نقل کړې ده)
(۲) لکه دطوسي په هکله چې دامشهوره سوې چې په آخرکې یې ترخوله ګنګې راووتل په دې اړه علامه شیرازي فرمایلي

سیف لودین کتابتون

ته روان وو په لاره کې له خره وغورزیدی او په یوه اغزی لرونکی بوټی باندی ومونښتی اودهغه بوټی یو اغزی دده په پښه ننوتی ددې کوچنی اغزی زخم دومره ډیرسو چی دهغه اغزی له کبله مړسو (۱) (اخرجه الطبرانی فی الاوسط والبیهقی وابونعیم کلاهما فی الدلائل وابن مردویه بسند حسن)

ډرنولوستونکو ددې پیښو اندازه تاسو په خپله وکوی چی داسلام په خپراوی اودعوت کې له زوره کااخیستل سوی دی او که داسلام په مخنیوی او ورانولوکې له زوراوظلم اوتیری څخه کار اخیستل سوی دی

دمسلمانانو تکلیفونه اوستونزی:

(بَاطِنُهُ فِيهِ رَحْمَةٌ وَظَاهِرُهُ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ)

څومره چی اسلام پرمختګ کوی اومسلمانان زیاتیدل هغومره دمکی مشرکینو غصه اوغضب زیاتیدی دکومو مسلمانانوچی مرستندوئ اوساتونکی وو په هغوئ باندی د مکی دکافرانو ډیر وس نه رسیدی مګر هغه مسلمانان چی بیچاره اوبی مرستندویه و هغه دمکی دقریشو دظلم اوتیری دامتحان تخته جوړه سو څوک به یې وهل اوڅوک به یې په کوڅنیو اوتوروخونوکې بندیانول اوس موږ څوپیښي لیکوچی په دې سره دمکی دمشرکینوظلم اوتیری اودصحابه کرام رضی الله عنهم دصبر اوزغم ښه اندازه کیږی.

(امام المؤذنین بالصلاة والفلاح سیدنا ومولانا بلال بن ابی رباح (۲) رضی الله عنهُ)

بلال رضی الله عنه حبشی النسل دی دامیه بن خلف مریئ وو ، کله چی به ښه تکنده غرمه سوه او ګرمی به ډیره سوه اوکانی به داورپه شان تاوده سوامیه به مریانو ته امر وکی چی بلال رضی الله عنه په ګرمو کاڼو بادی کیږدی اوپرسینه یوه غټه ډبره ورکښیږدی ددې دپاره چی ونه ښوری اوبیابه یې ورته ویل ته په دې حالت مرګ غواړې اوکه خلاصون غواړی نودمحمد ﷺ څخه انکاروکوه دلات اوعزی عبادت شروع که ؟ مګر حضرت بلال رضی الله عنه به په همدغه حالت کې د اَحَدٌ اَحَدٌ آوازپرژبه جاری وو

موحد چه برپائی ریزی زدش.... همین فولاد هندی نهی بر سرش...... امید دهر است نباشد زکس..... همین است بنیاد توحید وبس

کله به یې دغوایې په څرمن کې وپیچي اوکله به یې داوسپنی زغره وراغوسته پرسرپو به یې کښینوی په دې تکلیفو اوسختیو کې به هم دبلال رضی الله عنه ترخوله داَحَدٌ اَحَدٌ ږغ وتی (۳) اُمیّه بن خلف چی کله دبلال رضی الله عنه عزم اواراده ولیدله چی په ده کې هیڅ تزلزل نه راځی په غاړه کې رسۍ ورواچوله اوهلکانو ته یې په لاس ورکی چی په ټول ښارکې یې وګرزوی

(۱) داروایت خصائص کبری جلد ۱ صفحه ۱۴۶ کې دی اوتفسیرابن کثیر سروة الحجر جلد ۵ صفحه ۳۳۶ طبع قدیم کې ذکر سوی دی مګر دسند تحسین یې نه دی ذکر هغه یواځی په روح المعانی کې ذکر دی جلد ۱۴ صفحه ۷۸) (منه عفی عنه)
(۲) رباح دبلال رضی الله عنه دپلار نوم دی اودمورنوم یې حمامه دی)
(۳) سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۳۰۲)

سیف لودین کتابتون

مګر دبلال رضی الله عنه له ژبی مبارکی به د أَحَد أَحَد اوازراتلی (۱) وقال الحاکم صحیح الاسناد ولم یخرجاه واقره الذهبی (۲) دخپل عادت برابر به بلال رضی الله عنه دهمدې ظلم اوتیری دامتحان تخته جوړیده یوه ورځ ابوبکر صدیق رضی الله عنه دده وځنګ ته تیرسو داحالت یې ولیدی نوزړه یې پر وسوځیدی وامیه ته یې وویل (الاتتق الله فی هذا المسکین حتی متی انت) آیاته ددې مسکین په حق کې له الله جل جلاله نه ویرېږې آخرظلم اوتیری خوبه تریوی اندازی پوری وو.
امیه وویل داخوتاسوبیلاری کړی دی اوس به یې هم تاسوله عذاب ژغوری، ابوبکر صدیق رضی الله عنه وویل سمه دی زماسره یومریئ دی چې ډیر غښتلی هم دی اوستاسوپه دین باندی ډیرټینګ ولاړی دی هغه واخله اوپه بدل کې بلال رضی الله عنه ماته راکړه، امیه وویل ما قبول کی ابوبکر رضی الله عنه له امیه څخه بلال رضی الله عنه واخیستی اوازاد یې کی (۳) احسن الداعین الی الله الکبیر المتعال سیدنا ومولانا بلال رضی الله عنه الحبشی ملامبارکه دمشرکینو دظلم اوتیری له کبله داغل سوی وه کله چې به بلال رضی الله عنه شابنکاره که نوداغونه اونښی به له ورایه معلومیدی

عمار بن یاسر رضی الله عنهُ ؛

عماربن یاسر رضی الله عنه په اصل کې قحطانی عرب دی دده پلاریاسر رضی الله عنه دخپل ورک وروړپه لټون کې مکی مکرمی ته راغلی اودوه ورونه حارث اومالک ورسره وو حارث اومالک خویمن ته ولاړل اویاسر رضی الله عنه په مکه کې پاته سوله ابوحذیفه مخزومی سره یې دوستی وسوله ابوحذیفه خپله مینځه سمیّه بن خیاط ده ته په نکاح ورکړه له هغې څخه عمار رضی الله عنه پیداسو اوعمار رضی الله عنه دابوحذیفه ترمړینی پوری ورسره اوسیدی کله چې الله جل جلاله داسلام ظهوروکی، یاسر رضی الله عنه اوسمیّه رضی الله عنها اوعما ر رضی الله عنه اودده ورور عبدالله بن یاسر رضی الله عنه ټول په اسلام مشرف سو د عمار رضی الله عنه یوبل وروهم وو چې په عمرکې تر عمار رضی الله عنه مشروو (۴) حریث بن یاسرنومیدی دجاهلیت په وخت کې دبنی الدلائل په لاس ووژل سو، په مکه کې دعماربن یاسر رضی الله عنه هیڅ خپلوان اوقریبان نه وو چې ددوئ ساتنه یې کړی وای په دې وجه قریشودوئ ته ډیر سخت سخت تکلیفون ورکول، په تکنده غرمه کې به یې په ګرمه ځمکه واچول اودومره به یې ووهل چې بیهوښه به سو، کله به یې په اوبو کې غوپه کول، اوکله به یې په انګارباندی ودروی په دې حالت کې چې به کله نبی کریم ﷺ پرحضرت عمار رضی الله عنه باندی تیریدی نوپه سرباندی به یې لاس ورتیرکی اودابه یې ورته ویل:
(یَانَارُ کُونِیْ بَرْدًا وَسَلَاماً عَلَی عَمّار کَمَا کُنْتَ عَلَی اِبْرَاهِیْمَ) اې اوره ته په عمارباندی داسی یخ اوسالم

(۱) طبقات ابن سعد جلد ۳ صفحه ۲۶ـ۲۷)
(۲) مستدرک جلد ۳ صفحه ۲۹۴)
(۳) سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه)
(۴) طبقات ابن سعد جلد ۳ صفحه ۱۷۶)

سیف لودین کتابتون

سه لکه څنګه چې په حضرت ابراهيم علیه السلام باندې يخ او سالم سوی وی.
کله چې به نبی کريم ﷺ د حضرت عمار رضی الله عنه او دده د پلار ياسر رضی الله عنه او دده د مور سمیه رضی الله عنها حالت وليدی نو ورته فرمايل به يې اې آل ياسر رضی الله عنه صبر کوي : کله به يې ورته فرمايل ، اې الله جل جلاله ته آل ياسر ته بخښنه وکوی ، او کله به يې فرمايل ، تاسو ته دې زيری وی جنت له تاسو سره مينه لری (طبقات ابن سعد قسم اول او استيعاب لابن عبد البر تذکره عمار رضی الله عنه)
دعلی کرم الله وجهه څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چې فرمايل يې عمار رضی الله عنه له سره تر پښو پورې د ايمان له نوره ډک دی.
دا حديث په جامع ترمذی او سنن ابن ماجه (۱) کې راغلی دی په حسن سند سره او بزار هم له عائشه صديقه رضی الله عنها څخه روايت کړی دی او اسناد يې هم صحيح دی او دا روايت نسائی هم نقل کړی دی او اسناد يې هم صحيح دی (۲) باب مناقب عمار رضی الله عنه)
عمار رضی الله عنه يوه ورځ قميص وکيښ نو په شا مبارکه يې تور داغونه ښکاره سو خلکو پوښتنه څنی وکړه چې دا ولی ؟ عمار رضی الله عنه په ځواب کې ورته ويل، چې د مکی قريشو به زه په ګرمو ډبرو باندی واچولم دا داغونه د هغه وخت دی (۳) او دا ظلم يې دده له پلار مبارک ياسر رضی الله عنه او دده له مور مبارکی سميه رضی الله عنها سره هم کړی وو ، مجاهد فرمايلی دی ، تر ټولو مخکی شپږ کسانو د اسلام اعلان کړی دی رسول الله ﷺ ابوبکر صديق رضی الله عنه بلال رضی الله عنه خباب رضی الله عنه صهيب رضی الله عنه عمار رضی الله عنه سميه رضی الله عنها د کورنۍ د عزت په وجه په رسول الله ﷺ او ابوبکر صديق رضی الله عنه باندی د مکی مشرکينو پوره وس نه رسيدی ، خو بلال رضی الله عنه او خباب رضی الله عنه او صهيب رضی الله عنه او عمار رضی الله عنه او سميه رضی الله عنها د قريشو د ظلم او تيری د امتحان تخته جوړه سوی وه په تکنده غرمه کې به يې وهمدې صحابه رضی الله عنهم کرامو ته د اوسپنی زغری وا غوستلی او پر ګرمه ځمکه به يې ودرول
يوه ورځ ابوجهل خبيث راغلی او سميه رضی الله عنها يې په شرمګاه کې په برچه ووهله چې په هغې برچې سره شهيده سوه .اخرجه ابوبكر بن ابى شيبه عن مجاهد وهو مرسل صحيح السند (۴) ترجمه سميه رضی الله عنها
لومړي شهيده په اسلام کې سميه رضی الله تعالى عنها دی، چې ډيره زړه او ضعيفه وه ابوجهل خبيث چې کله د بدر په غزا کې ووژل سو رسول الله ﷺ عمار رضی الله عنه ته و فرمايل : قتل الله قاتل امک الله تعالى ستا د مور مبارکی قاتل هلاک او تباه کی
دعمار رضی الله عنه پلار ياسر رضی الله عنه په هغو سختيو او تکليفو کې د سميه رضی الله عنها تر شهادت مخکې وفات سو (۵)

---

(۱) الاصابه جلد ۲ صفحه ۱۲)
(۲) فتح البارى جلد ۷ صفحه ۷۲)
(۳) طبقات ابن سعد جلد ۳ صفحه ۷۷)
(۴) الاصابه جلد ۴ صفحه ۳۳۵)

سیف لودین کتابتون

صهيب بن سنان رضى الله عنهُ ؛

صهيب رضي الله عنه اصلاً د موصل د ښاوخوا اوسيدونکي وو دده پلار او اکا د کسرى لخوا د أبله حاکمان وو يوه ورځ روميانو د موصل پر اطرافو باندې بريد وکړ صهيب رضي الله عنه هغه وخت دلړ عمر ماشوم وو روميانو په لوټ مارکې بندي کي اوله ځان سره يې بوتلى نوموړى هم هلته په روم کې ځوان سو په دې وجه د صهيب رضي الله عنه رومي په نامه سره مشهور سو، په بني کليب کې يو سړي له روميانو رانيوى مکې ته يې راوستى په مکه کې عبدالله بن جدعان ځنى رانيوى او آزادى کي، کله چې رسول الله ﷺ د اسلام دعوت پيل کي نو صهيب رضي الله عنه او عمار رضي الله عنه دواړه پر يوه ځاى په دار ارقم کې په اسلام مشرف سو، د عمار رضي الله عنه په څير د مکي مشرکينو صهيب رضي الله عنه ته هم رنګارنګ تکليفونه ورسول، کله چې يې د هجرت اراده وکوله نو د مکي قريشو ورته وويل که ته ټول مال او سامان په مکه کې پرېږدى نو هجرت کولاى سى که نى نه دې پرېږدو، صهيب رضي الله عنه ور سره ومنله، دنيايې پرېښوده او هجرت يې وکي مدينې منورى ته ورسيدى، او دنبى کريم ﷺ په خذمت کې حاضر سوا و ټوله قصه يې ورته بيان کړه نبى کريم ﷺ وفرمايل (ربح البيع) صهيب رضي الله عنه په دې سوداکې ډيره ښه ګټه وکړه، چې دنيايې پرېښوده او اخرت يې غوره کي او الله تعالى په دې اړه دا آيت نازل کى

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ (٢٠٧) آيت سورة البقرة

ژباړه : يوشمير خلک داسى هم سته چې خپل ځان پلوري يواځى د الله ﷻ د رضا لپاره او الله تعالى په خپلو بندګانو باندې ډير مهربان دى .

او په يو بل روايت کې راغلى دى چې نبى کريم ﷺ وفرمايل (ربح صهيب ربح صهيبٌ)
صهيب رضي الله عنه ډيره ښه ګټه وکړله صهيب رضي الله عنه ډيره ښه ګټه وکوله)

د عمر بن حکم رضي الله عنه څخه روايت دى چې د مکى مشرکينو به صهيب رضي الله عنه او عمار رضي الله عنه او ابو فائده رضي الله عنه او عامر بن فهير رضي الله عنه دومره وهل ډبول چې بيهوښه به سو)

او د بيهوښى په حالت کې به داسى ووچې په دې خبر هم نه وو چې زمونږ له ژبو څه وزى په دې هکله دا آيت نازل سو :

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا فُتِنُوا ثُمَّ جَاهَدُوا وَصَبَرُوا إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَحِيمٌ (١١٠) سورة النحل

ژباړه : رښتيا ستا رب عَزَّوَجَلَّ د هغه خلکو لپاره چې له رنګارنګ ستونزو وروسته يې هجرت وکى او بيايې جهاد وکي او صبريې وکى له دې تکليفو وروسته ستا رب د دوئ بخښونکى او په دوئ باندې مهرباني کونکى دى ، دا آيتونه د دغه صحابه کرامو رضي الله عنهم په باره کې نازل سوى دى (١)

سیف لودین کتابتون

خباب بن الارت رضی الله عنهُ ؛

خباب بن الارت ﷜ له لومړنیو مسلمانانو څخه دی ، ویل سوی دی چی شپږم مسلمان دی ، ودارالقم ته دمسلمانانوترتلو مخکې په اسلام مشرف سو ، دام انمارمریئ وو کله چی ده اسلام قبول کی نوام انمار ډیر تکلیفونه ورکړه ، اصابه جلد ۱ صفحه ۴۱۶)

یوه ورځ خباب ﷜له عمرفاروق﷜ سره یوځای سو عمرفاروق ﷜ خباب ﷜ پر خپل ځای کښینوی اووایې وفرمایل : ددې بستری دناستی ترتابل څوک حق دارنسته ځکه په هغو تکلیفواوغموکې ستامرستندوئ اوملګری هیڅوک نه وو دبلال﷜ خودمکی یوشمیر مشرکین خواخوږی وو مګر ستاهیڅ خواخوږی نه وو

خباب ﷜ وایې :یوه ورځ دمکی مشرکینو زه په ګرم انګارباندی کینبودم اویوسړی زما پرسینه پښه کیښوده ددې دپاره چی زه هیڅ ونه ښورم ، کله چی ده قمیص پورته کی په شامبارکه باندی یې ټپونه اوداغونه ښکاریدل (۱)

خباب بن الارت ﷜ فرمایي : زه دجاهلیت په وخت کې آهنګرپښ وم توری می جوړولی یوه ورځ می عاص بن وائل ته توره جوړه که کله چی دقیمت دغوښتنې لپاره ورغلم نوعاص بن وائل وویل چی زه تاته یوه پیسه هم نه درکوم ترڅوچی ته له محمد ﷺ څخه انکارونه وکوی ،

عاص وویل آیازه به له مرګ وروسته بیاژوندی کیږم ، خباب ﷜ وفرمایل ، هو ،عاص وویل کله چی الله ﷻ مامړکی اوبیامی دویم ځل ژوندی کی اودغه رنګه مال او او لا د زماسره وی نوپه هغه وخت کې راسه ستاقرض به درکړم ، په دې هکله داآیتونه نازل سو :

أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا (۷۷) أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَنِ عَهْدًا (۷۸) كَلَّا سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا (۷۹) وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا (۸۰) سورة مریم)

ژباړه :آیاتاداسی سړی لیدلی دی چی زموږ له آیاتوانکارکوی اودئ وایې چی په آخرت کې به ماته مال او اولاد راکړل سی آیادئ په غیبو خبردی ، اوکه یې له الله ﷻ څخه کومه ژمنه اخیستی ده، هیڅکله داسی نه دی ، بلکې غلط وایې ، څه خبره چی کوی موږ هغه لیکو، ددې لپاره چی دقیامت په ورځ پرده باندی دلیل ودریږی اودده عذاب زیاته وو اوکوم مال او اولادچی دئ یادوی ددې ټولو موږ وارثان یو اودئ به دمال او اولاد څخه خالی لاس موږته راځی .

اَبُو فَکَیههَ جُهَنی رضی الله عنهُ ؛

دنومړی اصلی نوم یسار﷜ دی اوابوفکَیهه یې کنیه دی کنیه یې ډیره مشهوره دی دصفوان بن امیه مریئ وو ، امیه بن خلف به کله دده په پښو کې پړی ...

سیف لودین کتابتون

کله به یې داوسپنی په زولنوو تړی په ګرمه ځمکه به یې پری ایستی او په ملا به یې یوه غټه ډبره ورکیښودو ترڅو چې به دئ مبارک بیهوښه سو او کله به یې دده غاړه خفه که.

یوه ورځ امیه بن خلف په ګرمه ځمکه باندی پری ایستی غاړه یې ورخفه کړه په همدې وخت کې دامیه بن خلف وروړ ابی بن خلف هم راغلی ، ابی بن خلف ورته وویل دده غاړه ښه په زورخفه که په داسی زوریې خفه که چې خلک داګمان وکوی چې ساه یې ووتله دا دابی بن خلف مهربانی وه خو ناڅاپه ابوبکر صدیق رضی الله عنه راغلی او ابوفکیهه یې په پیسو ځنی رانیوی اوآزادی یې کی (۱)

زنیره رضی الله تعالی عنها ؛

زنیره رضی الله تعالی عنها د اسلام له لومړنیو مسلمانانو ښځو څخه ده ، د عمرفاروق رضی الله عنه مینځه وه ، عمر رضی الله عنه به داسی وهله چې پرسترې به سو ، ابوجهل به هم ډیر ظلم پرکوی ابوجهل او دمکی نورو مشرانو چې به کله زنیره رضی الله عنها ولیدله ویل به یې که اسلام ډیر ګټور اوښه وای نو زنیره رضی الله عنها به رمونږ څخه ښنګه مخکې کیدله . الله تعالی په دې هکله داآیت نازل کي : { وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَا سَبَقُونَا إِلَيْهِ وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُونَ هَذَا إِفْكٌ قَدِيمٌ [الأحقاف:۱۱ آیت]

ژباړه : ویل به هغه کسانو چې کافران دی هغه کسانوته چې مسلمانان دی که چیری اسلام ښه شئ وای نودې خلکو به ترمونږ مخکی والی نه وو کړی اودې ته نه ګوری که دوئ دخیروړوای نو دوئ به ولی له ربښتینی دین څخه مخ اړوی او له حق څخه به شاته پاته کیدل ..اودوئ ودې ته هم نه ګوری چې هروخت دوئ دانبیاء علیهم السلام له لاربښوونی مخ اړولی دی او دغریبانو زړونه خوددنیاله مینی او واک اودمال له مینی پاک اوصفادی دالله عزوجل دانبیاء علیهم السلام دښوونی قبلول هیڅ کله دحق دباطل کیدو دلیل نه دی بلکې دادسوال کونکو دښکاره بدبختی اولویی اوغرور اوتکبر ښکاره دلیل دی ،بیوزله او غریبان دحق دقبلولو په وجه له کښته ځنی لوړپورته کیږی اوامیران اومشران له حق څخه دمخ اړونی په وجه دهوښیارانو په نظر رسوا اوذلیل کیږی اولاندی راغورزی اوکه امیر د حق په قبلولو کې شاته نه سی لکه ابوبکر صدیق رضی الله عنه اوعثمان غنی رضی الله عنه اوعبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه نو دهغوئ په عزت اومرتبه کې نور لوړوالی راځی .

زنیره رضی الله عنها په دې تکلیفو او غمو کې په ستر ګوړنده سوه دمکی مشرکینو به ویل چې لات اوعزی داړنده که ، زنیره رضی الله عنها به دمکی دمشرکینو په ځواب کې ویل چې لات اوعزی خو په دې هم نه دی خبر چې څوک زمونږ عبادت کوی داخو یواځی دالله جل جلاله له لوری دی الله جل جلاله

که وغواړی نو بیرته به زه روغه جوړه سم ، دالله ﷻ دقدرت ته ګوره چی په همدغه شپه سهار باندی روغه جوړه سوه اوسترګویې دیدشروع کی ، دمکی مشرکینو به ویل وګوری محمد ﷺ څنګه جادوکړی دی زنیره رضی الله عنها بیرته روغه سوه . ابوبکر صدیق رضی الله عنه زنیره رضی الله عنها په پیسو رانیوله اوازاده یې که

ابوبکر صدیق رضی الله عنه مریان اومینځی رانیول اوازادول به یې اودمظلومانونفسونه به یې دظالمانو له منګولوژغورل لکه بلال رضی الله عنه ابوفکیهه رضی الله عنه عامربن فهیره رضی الله عنه زنیره رضی الله عنها نهدیه رضی الله عنها اودنهدیه لور رضی الله عنها اولبینه رضی الله عنها اوام عبس رضی الله عنها داټول ابوبکرصدیق رضی الله عنه آزاد کړل(۱)

دابوبکرصدیق رضی الله عنه پلار ابوقحافه تردغه وخته لا په اسلام نه وو مشرف سوی ابوقحافه یوه ورځ ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته وویل زه تاوینم چی کمزوری مریان چاڼ کوی اوهغه رانیسی اوازاده وی یې که غښتلی ځوانان رانیسی اوآزادیې کی نوستاپه کاربه راسی ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورته وویل دځه لپاره چی زه دوئ آزادوم هغه غرض زماپه زړه کې دی په دې هکله داآیت نازل سو :

فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى (٥) وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى (٦) فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى (٧) وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَى (٨) وَكَذَّبَ بِا
لْحُسْنَى (٩) فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى (١٠) وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّى (١١) إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَى (١٢) وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُو
لَى (١٣) فَأَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّى (١٤) لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى (١٥) الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّى (١٦) وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى (١٧) الَّذِي يُؤْ
تِي مَالَهُ يَتَزَكَّى (١٨) وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِعْمَةٍ تُجْزَى (١٩) إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَى (٢٠) وَلَسَوْفَ يَرْضَى (٢١) سورة الليل)

ژباړه : هغه چاچی دالله ﷻ په لاره کې خرچ وکړ اودالله ﷻ څخه وویریدی اودښی خبری (یعنی دین اسلام) تصدیق یې وکی ، نوموږبه هغه ته دجنت داعمالو توفیق ورکړو اوهغه چاچی بخل وکی اوځان یې بی پرواکي اوښه دین یې دروغجن وګڼی دده لپاره به بد عملونه آسانه کړو اودمرګ په وخت کې به ده ته مال اودولت هیڅ ګټه ونه رسوی اوسمه لار زموږپه واک کی دی اوهم موږددنیااوآخرت مالکان یو ، وروسته زه تاسوله لمبی وهونکی اورڅخه ویروم په دې کی به دتل دپاره هغه سړی داخلیږی چی ترټولوزیات بدبخت وی اوحق دین ته یې دروغ وویل اودهغه څخه یې مخ واړاوی اوددې اورڅخه به هغه سړی بیخی خوندی وی چی ترټولوډیر پرهیزګاره دی اوخپل مال دپاکوالی دپاره دالله ﷻ په لاره کی ورکوی ، دده پرذمه دهیچابدله نسته چی دهغه بدله ورکی ، یوائی دالله ﷻ رضااوخوشالی یې مقصوددی دې سړی ته به موږداسی نعمتونه ورکړوچی دهغه په لیدو سره به خامخا دئ راضی اوخوشاله سی ..

اخرجه الحاکم عن عبدالله بن زبیر رضی الله عنه زرقانی جلد۱ صفحه ۲۶۹) عیون الاثر جلد۱ صفحه ۱۱۱) البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۵۸)

داآیتونه په اجماع دامت سره دابوبکر صدیق ﷺ په شان کې نازل سوی دی او په دې آیت

(۱) زرقانی جلد۱صفحه ۲۶۹)

سیف لودین کتابتون

کې ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته اتقی ویل سوی دی یعنی ترټولو ډیر پرهیزګاره اوترټولو ډیر ویریدونکی له الله جل جلاله څخه) اوپه سورة حجرات کې الله جل جلاله فرمایلی دی (إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ (۱۳) آیت سورة الحجرات یقیناً په تاسوکی ترټولوډیرد الله جل جلاله په نزدعزتمند هغه سړی دی چی هغه په تاسو کې ترټولوډیرپرهیزګاره اودالله جل جلاله څخه ویریدونکي وی .

له دې څخه معلومه سوه چی دالله جل جلاله په نزد ترنبی کریم ﷺ وروسته غوره بنده اوبهترین هستی حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه دی ،

اودنبی کریم ﷺ څخه وروسته همدئ ترټولو افضل اوغوره دی ،ځکه داسلام له پیل څخه ده په بدن اومال سره داسلام مرسته کړی دی مریان به یې رانیول اوآزادول به یې .

ابوبکر صدیق رضی الله عنه دڅلویښت زره درهموشتمنی ددریارلس کالوپه موده کې په اسلام خرڅ کړه اوڅه چی ورپاته وه هغه یې دهجرت په سفر اودمسجدنبوی دځمکی په رانیولوکې خرڅ کړه کله چی څه ورپاته نه سو نوابوبکر صدیق رضی الله عنه یوه زړه شړۍ اغوستی وه اودنبی کریم ﷺ مجلس ته راغلی وې ویل زه له خپل پالونکی خدای جل جلاله ډیر خوشاله یم یوشمیرشیعه ګان وایې چی داسورة دعلی رضی الله عنه په اړه نازل سوی دی ؟

ځواب دادی چی ددې سورة ټول الفاظ پردې شاهددی چی داسورة دهغه سړی په اړه نازل سوی دی چی خپله ټوله شتمنی یې یوازې دالله جل جلاله دخوشحالۍ اورضالپاره دالله جل جلاله په لاره کې مصرف کړی ده ،

اوټوله نړۍ په دې خبره دی چی علی کرم الله وجهه هغه وخت کوچنی اودابوطالب دییوزلۍ له کبله دنبی کریم ﷺ په تربیه اوپالنه کې وو علی رضی الله عنه هغه وخت نه مالی توانمندی درلودله اونه بدنی ځکه علی رضی الله عنه دغه وخت ډیر کشروو علی رضی الله عنه څنګه ددې آیاتومصداق جوړیدای سی اوابوبکر صدیق رضی الله عنه خوپه ځان اومال سره په هغه وخت کې داسلام مرسته وکړه داهغه وخت ووچی مسلمانان کمزوری اوبی مرستندویه وپه داسی وخت کې مرسته کول ډیروفضیلتواوغوراوی لامل ګرزی دالله جل جلاله ارشاددی :

لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ (۱۰) سورة الحدید

ژباړه :برابرنه دی له تاسوڅخه هغه خلک کوم چی مصرف یې وکی په لاره دالله جل جلاله کی او دمکی ترفتح مخکې یې جهادوکړی بلکې داخلک په درجه اومرتبه کی ډیر لوړدی ترهغوخلکوچی دمکی ترفتح وروسته یې خرچ اوجهادی وکی ، اوالله جل جلاله له ټولو سره دنیکۍ وعده کړی ده ..

دمکی له فتح وروسته اسلام غنی سوترفتح وروسته دمرستی هیڅ اړتیا پاته نه سوه په دې وجه له نبی کریم ﷺ څخه وروسته په ټول امت کی ابوبکرصدیق رضی الله عنه ترټولو افضل

سیف لودین کتابتون

اوغوره دی ځکه دتیرو آیاتوپه بناء باندی ابوبکرصدیق رضي الله عنه ته اتقی (ډیرپرهیزګاره ویل ثابت سو اودا دده داکرم عندالله دلیل هم دی ، له دویم آیت څخه دابوبکرصدیق رضي الله عنه اعظم درجةً یعنی ترټولودلوړی مرتبی لرونکي ثابت سو ځکه ابوبکرصدیق رضي الله عنه دمکی ترفتح مخکې داسلام مرسته کړی اودالله جل جلاله په لاره کی يې په ځان اومال سره داسلام مرسته کړی . اودابوبکرصدیق رضي الله عنه مخکې والی په اسلام کې له تیروپاڼوثابت سو اودهجرت په سفرکی دنبی کریم ﷺ ملګری اوپه غارکې دنبی کریم ﷺ دملګری او یوځای والی اوپه مرض الوفات کی دامامت بیان به ان شاء الله العزیزوروسته راسی داټول دابوبکرصدیق رضي الله عنه دافضلیت ډیرغوره والی دلائل دی .

قریشومسلمانانوته په ضرر رسولوکی یوګړی هم صبرنه دی کړی په ونوپوری يې تړلی دی ، په پښوکې به يې رسۍ وروا چولی اوراکشول به يې ، پرګرموشګوبه يې به سوځول هرڅه تکلیفونه يې ورکړل مګر له حق دین څخه يې یومسلمان یوګام هم نه واړوی یوشمیرخوله ډیر تکلیف شهیدان سو مګر داسلام څخه نه واوښتل (رضی الله عنهم ورضوا عنه)

داخودهغومسلمانانویادونه وه چی یادچامریان وو یاله بل هیوادراغلی وو د مشرکینو له تیری څخه هغه خلک هم خوندی پاته نه سوکوموچی دعزتمنوکورنیومخورخلک و لکه عثمان رضي الله عنه کله چی ده مبارک اسلام راوړی نودده آکا حاکم بن ابی العاص په رسۍ وتړی اوورته وې ویل چی آیاته دخپل پلار اونیکه دین پریږدی اونوی دین دې غوره کړی دی؟ عثمان رضي الله عنه په ځواب کې ورته ویل زمادې په الله عزوجل قسم وی که زه دادین هیڅکله پریږدم اویاځ... ...سم ، حاکم چی کله دده سختی ولیده نوپری يې ښودی (۱)

دویم زبیر بن العوام رضي الله عنه چی کله اسلام راوړی نودده آکا نوموړی په بوریه کې ونیچی اودود به يې ورته کوی ددې لپاره چی دئ کفرته بیرته ورګرزوی مګر زبیر رضي الله عنه به داویل :

(لا اکفر ابداً) زه هیڅ کله له اسلام نه اوړم) (۲)

دریم :د عمرفاروق رضي الله عنه اخښی اوداکازوی سعیدبن زید رضي الله عنه چی کله اسلام راوړی نو عمرفاروق رضي الله عنه هغه په رسۍ یاپړی وتړی (صحیح البخاری باب اسلام سعیدبن زید رضي الله عنه)

څلورم خالد بن سعیدبن العاص رضي الله عنه کله چی ده اسلام راوړی نوپلاردومره ووهی چی سریې ټول زخمی سو اوخوراک اوڅښناک يې پربند کړه قصه يې مخکی بیان سوه)

پنځم :ابوبکر صدیق رضي الله عنه اوطلحه رضي الله عنه کله چی دوئ اسلام راوړی نونوفل بن خویلدچی دقریشوزمری یادیدی دوئ دواړه مبارکان به يې راوستل اوپه یوه رسۍ به يې وتړل ، په دې وجه ابوبکر رضي الله عنه اوطلحه رضي الله عنه ته قرنین (یعنی دواړه په یوه رسۍ تړل سوی) ویل سوی دی (طبقات ابن سعد ترجمه طلحه رضي الله عنه)

(۱) طبقات ابن سعد جلد ۳ صفحه ۳۸) ———(۲) الاصابه جلد ۱ صفحه ۵۴۵)

سیف لودین کتابتون

شپږم : وليدبن وليد ﷺ اوعياش بن اربی ربيعه ﷺ اوسلمه بن هشام ﷺ کله چې دوئ اسلام راوړی نوکفارودومره تکليفونه ور رسول چې هجرت يې هم نه سوکولای ځکه په هجرت سره تکليفونه پای ته رسيدو ، نبی کريم ﷺ په مدينه منوره کې هرسهارپه لمانځه کې دوئ په نامه يادول او دمکی له مشرکينو څخه يې ددوئ دخلاصون دعاکله نبی کريم به داسی فرمايل به ياالله ﷻ ته وليدبن وليد ﷺاوعياش بن ربيعه ﷺاوسلمة بن هشامﷺ ته دمشرکينوله تيری خلاصون ورکړی (صحيح بخاری)

اووم : ابوذرغفاری ﷺ چې کله اسلام راوړی په مسجدحرام کې يې داسلام راوړلواعلان وکی نودمکی مشرکينودومره ووهی چې پرځمکه ولويدی عباس ﷺ راغلی اوځنی ويې ژغوری (صحيح البخاری باب اسلام ابی ذر ﷺ)

دسپوږمۍ ده دوه ځايه کيدلو معجزه :

اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ (۱) سورة القمر)

دمدينی منوری ترهجرت تقريباپنځه کاله مخکې يوه ورځ دمکی مشرکين نبی کريم ﷺ ته راغله په دوئ کې وليدبن مغيره ، ابوجهل ، عاص بن وائل ، عاص بن هشام ، اسودبن عبديغوث ، اسود بن مطلب ، زمعة بن الاسود ، نضربن حارث ، اوداسی نورمشران هم و دوئ ونبی کريم ﷺ ته وويل که ته رښتيانبی يې نودخپل نبوت خاصه نښه معجزه موږته راښکاره کړه اوپه يو روايت کې راغلی دی چې ورته وې ويل چې ته سپوږمۍ دوې ټوټی که ، چې موږيې په خپلوسترګووينو . دشپې وخت وو ، اودڅورلسم سپوږمۍ راختلی وه نبی کريم ﷺ وفرمايل ښه که دامعجزه درته ښکاره کړم بياخوبه ايمان راوړی ، دوئ وويل هو موږټول به ايمان راوړو ، نبی کريم ﷺ له الله پاک دعاوغوښته اوپه ګوته مبارکه يې وسپوږمۍ ته اشاره وکړه ، سپوږمۍ هم سمدستی دوې ټوټی سوه،يوه ټوټه دابوقبيس پرغره ودريده ، اودويمه ټوټه دقيقعان پرغره ودريده ، ترډيره وخته دوئ په حيرت ورته کتل داسی حيران وو چې خپلی سترګې يې په ټوکر پاکولی اوسپوږمۍ ته يې کتل خو چې هرڅومره به يې ورته وکتل سپوږمۍ به دوې ټوټی په سترګومعلوميده نبی کريم ﷺ په دغه وخت کې دوئ ته وفرمايل(اشهدوا اشهدوا) اې خلکوشاهدی ورکړی اې خلکوشا هدی ورکړی دمازيګراوماښام ترمنځ چې څومره وخت وی سپوږمۍ همدومره وخت دوې ټوټی ولاړه وه ، وروسته بيرته سمه دمه سوه ،دوئ وويل چې محمد ﷺ جادووکې ترهغواسلام مه قبولوی ترڅوله بيابانه مسافر راسی اوله هغوئ پوښتنه وسی ځکه داسی نه سی کيدای چې محمد ﷺ دې پرټولو خلکوجادوکړی وی که هغوئ هم سپوږمۍ دوې ټوټی په خپلوسترګوليدلی وه نورښتياده اوکه دوئ نه وه ليدلی نوبيامحمد ﷺ پر

موږ جادو کړي دي، کله چې مسافر راغلل او پوښتنه ځنې وسوه نو هر راتلونکي مسافر به خپل د سترګو لیدلي حال بیان کی چې موږ د سپوږمۍ دوه ځایه کیدل په خپلو سترګو ولیدل مګر ددې شاهدانو سره بیاهم دې ضدیانو ایمان نه راوړی دوئ وویل چې داسحر مستمر همیشني جادو دی یعنی دجادو اثر به ژر لیري سی په دې اړه داآیت نازل سو : اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ (۱) وَإِنْ يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُسْتَمِرٌّ (۲) سورة القمر)

دسپوږمۍ دچاودیدلو معجزه درسول الله ﷺ په وخت کې په قرآن کریم او احادیث متواتره او صحیح او جید وسندو سره ثابت دی او پردې باندی دټولو سلفو او خلفو اجماع دی .

اوکوم شاذاونادر چې دوانشق صیغه دماضی په معنی دمضارع اړوی یعنی سینشق القمر هغه سراسر دقرآن له ظاهر اوله صریح اوصحیح احادیثو اودسلفو اوخلفوله تصریحاتو خلاف خبره ده هیڅ دمنلو وړ هم نه دی، دسپوږمۍ ددوه ځایه کیدو دپیښې چې کوم تفصیل موږ وکی هغه مو په البدایه والنهایه للحالفظ ابن کثیر او فتح الباری باب انشقاق القمر څخه رااخیستی دی (۱) علماء اوپوهان دې وهمدې اصولو ته رجوع وکوی

سوال : داسلام دښمنان پردې معجزه باندی داسوال کوی چې اول خودامحال دی اوکیدای نه سی چې سپوږمۍ دی دوې ټوټې سی دویم داچې ددې پیښې یادونه په هیڅ تاریخ کې نسته ؟

ځواب : ترڼنه پوری په هیڅ عقلی دلیل سره دداسی پیښو محال کیدل نه دې ثابت سوی ،الله عزوجل پرهرڅه قدرت لری لکه څنګه چې ترسپوږمۍ لاندی شیانو کې تغیر او تبیدل عقلا محال نه دی دغه رنګه دالله ﷻ دقدرت اوارادی سره سره په اجسام علویه یعنی لوړو شیانو کې هم تغیر او تبدیل هیڅ محال نه دی دالله ﷻ دقدرت په اعتبار سره اسمان اوځمکه لمر او سپوږمۍ ونې او کاڼی ټول سره برابر دی کوم خدای ﷻ چې لمر او سپوږمۍ پیدا کړی دی هغه خدای ﷻ داشیان دوه ځایه کولای هم سی او بیرته یې جوړولای هم سی بهرحال دداسی نادرو پیښو راتګ هیڅکله محال نه دی هو دا به درسره ومنم چې عجیب اوغریب دی خودهری معجزی لپاره نادروالی اوغریب والی لازم دی کوم خلک چې د نادروالی له وجی دامحال بولی هغوئ دمحال اونادر فرق اوتوپیر نه سی کولای،

اوپاته سوه داخبره چې ددې پیښې یادونه په تاریخی کتابو کې نسته نو په سلهاوو داسی عجیب او نادری پیښې سوی دی مګر په تاریخو کې دهغوئ هیڅ یادونه نسته په تورات اوانجیل کې ډیری داسی پیښې سته چې دهغو یادونه په هیڅ تاریخ کې یو ځای هم نسته او بل داچې دسپوږمۍ دوه ځایه کیدل دشپې داسی وخت وسوه چې عام خلک ویده وو او بل داچې دلږ وخت دپاره وه ، په دې وجه که ټولو خلکو نه وی لیدلی هیڅ عجیبه نه دی

(۱) البدایه والنهایه جلد۳ ص ۱۱۸، ۱۲۰ فتح الباری جلد۷ ص ۱۳۸

سیف لودین کتابتون

ځکه ډیروخت لمراوسپوږمۍ تندرونیسي خوډیرخلک په خبرهم نه وي دلمراوسپوږمۍ دځای دبدلیدوپه وجه په ډیروځایوکې ورځ وي خوپه نوروځایوکې شپه وي اوخلک ویده وي . اوبل داچې ددې معجزې څخه مقصودیوائې دمکې خلکوته ښودل وواوپر هغوئ باندې حجت پوره کول وو هغه مقصودحاصل سو ټولې دنیاته ښوول مقصودنه و اوبل داچې دیوشئ لیدل دالله ﷻ په اراده پوري موقوف دي کیدای سي ستا تر ستر ګو لاندې شئ وي خوته یې نه ویني ځکه الله ﷻ چې نه وغواړي ته یې نه سي لیدلای .

دلمرد راګرزیدلو معجزه ؛

دنبي کریم ﷺ له معجزوڅخه یوه دلمردراګرزیدومعجزه دی (١)یعنی له لمر لویدو وروسته بیرته راګرزیدل ، له اسماء بنت عمیس رضی الله عنها څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ خیبرته نژدې په صهباء نومي ځای کې وو اوسرمبارک یې د علي کرم الله وجهه په غیږکې وو علي رضی الله عنه دمازیګرلمونځ نه وو کړی ،اوپه همدې حالت کې دوحي نزول پیل سو ترڅو چې لمرولویدی،نبي کریم ﷺ له علي رضی الله عنه څخه پوښتنه وکوله چې تادمازیګرلمونځ کړی دی علي رضی الله عنه ورته وویل نه ، نبي کریم ﷺ په همدې وخت کې لاس په دعاپورته کړاوله الله ﷻ څخه یې وغوښتل چې اې الله ﷻ علي رضی الله عنه ستاپه اطاعت کې دی دده لپاره لمربیرته راوګرزوی چې دمازیګرلمونځ پرخپل وخت اداکی ، اسماء بنت عمیس رضی الله عنها وایې چې موږ ورته کتل چې لمرترلویدو وروسته بیرته راپورته سواودلمرشغلې پرځمکه اوغروخپرې سوې امام طحاوی رحمة الله علیه فرمایې چې داحدیث صحیح دی او دحدیث ټول راویان ثقه دي ابن جوزي رحمة الله علیه اوابن تیمیه رحمة الله علیه ودې حدیث ته موضوع اوبې اصله ویلي دي اوشیخ جلال الدین سیوطي رحمة الله علیه ددې حدیث په اړه یوه ځانګړې رساله د (کشف اللبس عن حدیث رد الشمس) په نامه جوړه کړې ده اوپه هغه رساله کې یې ددې حدیث په طریقو اوسندوباندې خبرې کړې دي اوددې حدیث صحیح کیدل یې ثابت کړي دي اوعلامه زرقاني هم په شرح مواهب کې ددې حدیث صحت اواستناد ثابت کړی دی (٢)

دلمردځای پرځای دریدلو معجزه ؛

په یوشمیرروایاتوکې راغلي دي چې یوه ورځ دنبي کریم ﷺ لپاره دلږوخت لپاره دلمرحرکت ودریدی داروایت دمحدثینوپه نزدمعتبرنه دی ، زرقاني جلد ۵ صفحه ١١٨ نسیم الریاض جلد ٣ صفحه ١۴ وشرح شفاللعلامه القاري جلد ١ صفحه ۵٩١)

---

(١)دامعجزه کله هم ترهجرت وروسته په کال ٧ هجري کې دخیبرڅخه دراتلوپرمهال دصهباء په نامه ځای کې وښودل سوه مګر دسپوږمۍ په مناسبت مودلته راوړه والله اعلم (منه عفا الله عنه)

(٢) نسیم الریاض شرح شفاقاضي عیاض جلد ٣ صفحه ١٣١) زرقاني جلد ۵ صفحه ١١٣_١١٦)

سیف لودین کتابتون

لکه څنګه چې دسپوږمۍ دوه ځایه کیدل اودلمربیرته راګرزیدل اودلمرځای پرځای دریدل درې سره معجزې یوبل ته نژدې دې په دې وجه مونږ درې واړه په یوه سلسله کې راوړې ، دامعجزه په مکه مکرمه کې وښودل سوه کله چې نبی کریم ﷺ دمعراج څه دبیرته راتلو قصه وقریشوته بیان که اودمعراج اوتربیت المقدس پورې دتګ بیان یې وکړ نوقریشو دبیت المقدس علامې ځنې وپوښتلې اوله نبی کریم ﷺ څخه دیوې قافلې حال وپوښتی هغه قافله دتجارت لپاره شام ته تللې وه چې داقافله به کله راسیږې ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چې قافله به دچهارشنبې په ورځ مکې ته داخلیږي کله چې دچهارشنبې ورځ پای ته ورسیده اومابنام سو نوکفاروشور اوزوږ جوړکې په دغه وخت کې نبی کریم ﷺ دعاوکړه چې یا الله ﷻ ته لمر پرهمدغه ځای ودروې په کوم ځای چې ولاړدی ترڅو چې قافله راورسیدله لمرپرهم هغه ځای ولاړوو الله ﷻ دنبی کریم ﷺ تصدیق ښکاره کې .

دصحابه کرام رضی الله عنهم لومړی هجرت وحبشه ته !

کله چې داسلام دایره ورځ په ورځ پراخیدله اوخلک داسلام په کړي ورځ په ورځ زیاتیدل دمکې مشرکینودانه سوزغملای اوټولوپه اتفاق سره دمسلمانانوضرر رسولوته ملاوتړله اورنګارنګ تکلیفونه اوظلمونه یې پرمسلمانانوشروع کړل ددې لپاره چې مسلمانان په زورله اسلام څخه واړوی په همدې وخت کې نبی کریم ﷺ وفرمایل (تفرقوا فی الارض فان الله سیجمعکم الی هنا واشار بیده الی ارض الحبشة) تاسو دالله ﷻ په ځمکه کې سره بیل سی ژر ده چې الله ﷻ به تاسو رایوځای کی صحابه رضی الله عنه کرام رضی الله عنهم پوښتنه وکړه چې کومې خو اته ولاړسو نبی کریم ﷺ دحبشه هیواد وخواته اشاره وکوله (رواه عبدالرزاق عن معمر عن الزهری(۱)

اودایې هم وفرمایل چې هلته یوپاچادی دهغه په پاچهي کې څوک پرچاتیری نه سی کولا ی په هغه وخت کې صحابه کرام رضی الله عنه دبدنی تکلیفواوغمواودردوڅخه دومره نه ووتنګ بلکې دکفراوشرک له فتنې څخه ویریدل اودخپل دین دساتلوپه خاطر دالله ﷻ خواته کډه وکړه ددې لپاره چې په ډاډه زړه دالله ﷻ نوم واخلي اودهغه عبادت وکوي په کال ۵هجری درجب په میاشت کې لاندې صحابه کرامو رضی الله عنه دحبشه وهیواد ته هجرت وکې ،

نارینه مهاجر : عثمان بن عفان رضی الله عنه (۲) عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه (۳) زبیربن عوّام رضی الله عنه (۴) ابوحذیفه بن عتبه رضی الله عنه (۵) مصعب بن عمیر رضی الله عنه (۶) ابوسلمة بن عبدالاسد رضی الله عنه (۷) عثمان بن مظعون رضی الله عنه (۸) عامر بن ربیعة رضی الله عنه (۹) سهیل بن بیضاء رضی الله عنه (۱۰) ابوسبرة بن ابی رهم عامری فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۴۳) اودعیون الاثرپه جلد ۱ صفحه ۱۱۵ کې (۱۱) حاطب بن عمرو رضی الله عنه هم یادسوی دی)

---

(۱) عیون الاثر جلد ۱ صفحه ۱۱۵

سیف لودین کتابتون

ښځې مهاجرې :(۱) رقیه رضی الله تعالی عنها درسول الله صلی الله علیه وسلم لورم اود عثمان غنی رضی الله عنه عزتمنده میرمن . (۲) سهلة بنت سهیل رضی الله عنها دابو حذیفه رضی الله عنه میرمن ، (۳) ام سلمه رضی الله عنها بنت ابی امیه دابو سلمه رضی الله عنه ښځه چې دابو سلمه رضی الله عنه تروفات وروسته دنبی کریم ﷺ په نکاح مشرف سوه اودام المؤمنین په لقب سره ونومول سوه (۴) لیلی بنت ابی حشمه رضی الله عنها دعامر بن ربیعه رضی الله عنه میرمن ،، فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۴۳)

دحبشې دمهاجرینو په فهرست کې محمد بن اسحق دحاطب بن عمرو رضی الله عنه او ام کلثوم رضی الله عنها نمونه نه دی یادکړی ، دانو مونه حافظ ابن سیدالناس په عیون الاثر کې راوړی دی ، واقدی دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه نوم هم یادکړی دی ، حافظ عسقلانی فرمایې چې صحیح دادی چې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دحبشه په لومړنی هجرت کې نه وو بلکې په دویم ځلی هجرت کې وو موږ به یې په نژدی راتلونکي کې درته بیان کړو او محمد بن اسحق هم ویلی دی چې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دحبشې په لومړنی هجرت کی نه وو بلکې په دویم ځل هجرت کې و اودمسند احمد له یو حسن روایت څخه هم همداسی معلومېږی (فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۴۳)

دایو ولس نارینه او پنځه ښځې په پټه روان سو ،یو شمیریې سپاره اونورپلی روان سو کله چې دسیند غاړی ته ورسیدل دوې تجارتی بیړۍ حبشه دتګ په حال کې تیاری ولاړی وی ، پنځه درهمه کرایه ځنې واخیسته دوئ ټول یې سپاره کړه دمکی مشرکین چې کله خبرسو سمدستی یې سپاره ورپسی ولیږل کله چې دوئ بندګاره ته ورسیدل نوکښتۍ مخکې لاتللی وی (عیون الاثر جلد ۷ صفحه ۱۸۰) حافظ عسقلانی لیکی چې داصحابه کرام رضی الله عنهم دجدی له غاړی سپاره سو (فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۸۰)

دوئ د رجب له میاشتی بیاترکوچنی اختره پوری په حبشه کې پاته سو په کوچنی اختر کی یې داخبرواوریدی چې دمکی خلک ټول مسلمانان سوی دی ددې غلط خبرپه اوریدو دوئ بیرته راغله کله چې مکی ته نژدی راورسیدل داورته معلومه سوه چې دا خبر دروغ دی نودوئ په ډیر سخت حالت کې ولویدل چې اوس به څه کیږی څوک په پټه او څوک دچاپه پناه منلو سره مکی ته داخل سو ،

وحبشي ته دصحابه کرام رضی الله عنهم دویم ځل هجرت ؛

دمکی مشرکینو اوس ترمخکې ډیر ظلم اوتیری ورسره کوی له همدې کبله رسول الله ﷺ وحبشه ته ددویم ځل هجرت اجازه ورکړه په دې هجرت کی لاندی صحابه کرامو رضی الله عنهم برخه درلودله :

سیف لودین کتابتون

نارينه مهاجر؛ (۱) عثمان بن عفان ﷺ (۲) جعفربن ابی طالب ﷺ (۳) عمروبن سعيد بن العاص ﷺ (۴) خالدبن سعيدبن العاص ﷺ دعمروبن سعيد ﷺ ورور (۵) عبدالله بن جحش ﷺ (۶) عبيدالله بن جحش چی په حبشه کې نصرانی سو اوپه نصرانيت مړسو (۷) قيس بن عبدالله ﷺ (۸) معيقب بن ابی فاطمه دوسی ﷺ (۹) عتبه بن غزوان ﷺ (۱۰) زبيربن العوام ﷺ (۱۱) ابو حذيفه بن عتبه ﷺ (۱۲) اسودبن نوفل ﷺ (۱۳) يزيدبن زمعه ﷺ (۱۴) عمرو بن اميه ﷺ (۱۵) طليب بن عمير ﷺ (۱۶) مصعب بن عمير ﷺ (۱۷) سويط بن سعد ﷺ (۱۸) جهم بن قيس ﷺ (۱۹) عمرو بن جهيم دجهم بن قيس ﷺ زوی (۲۰) خزيمه بن جهم ﷺ يعنی دجهم دويم زوی (۲۱) ابوالروم بن عمير ﷺ دمصعب بن عمير ورور (۲۲) فراس بن النضر ﷺ (۲۳) عبدالرحمن بن عوف ﷺ (۲۴) عامربن ابی وقاص ﷺ (۲۵) مطلب بن ازهر ﷺ (۲۶) عبدالله بن مسعود ﷺ (۲۷) عتبه بن مسعود ﷺ دعبد الله بن مسعود ﷺ ورور (۲۸) مقداد بن عمرو ﷺ (۲۹) حارث بن خالد ﷺ (۳۰) عمروبن عثمان ﷺ (۳۱) ابوسلمة بن عبدالاسد ﷺ (۳۲) شماس ﷺ چی دته عثمان بن عبدالشريا وايي (۳۳) هباربن سفيان بن عبدالاسد ﷺ (۳۴) عبدالله بن سفيان دهبارورو (۳۵) هشام بن ابی حذيفه ﷺ (۳۶) سلمه بن هشام ﷺ (۳۷) عياش بن ابی ربيعة ﷺ (۳۸) معتب بن عوف ﷺ (۳۹) عثمان بن مظعون ﷺ (۴۰) سائب بن عثمان ﷺ (۴۱) قدامه بن مظعون ﷺ (۴۲) عبدالله بن مظعون ﷺ قدامه اوعبدالله دواړه دسائب ﷺ آکاگان دی (۴۳) حاطب بن الحارث ﷺ (۴۴) محمدبن حاطب ﷺ (۴۵) حارث بن حاطب ﷺ دواړه دحاطب ﷺ زامن دی (۴۶) خطاب بن الحارث ﷺ دحاطب بن الحارث ﷺ ورور (۴۷) سفيان بن معمر ﷺ (۴۸) جابربن سفيان ﷺ (۴۹) جناده بن سفيان ﷺ دسفيان زوی دحسنه له نس ښځه (۵۰) شرحبيل بن حسنة ﷺ دجابر ﷺ اوسفيان ناسکه ورور (۵۱) عثمان بن ربيعه ﷺ (۵۲) خنيس بن حذافه سهمی ﷺ (۵۳) قيس بن حذافه سهمی ﷺ (۵۴) عبدالله بن حذافه سهمی ﷺ دادري سره وروڼه دی (۵۵) عبدالله بن الحارث سهمی ﷺ (۵۶) هشام بن العاص سهمی ﷺ (۵۷) ابوقيس بن الحارث سهمی ﷺ (۵۸) حارث بن الحارث بن قيس سهمی ﷺ (۵۹) معمربن الحارث سهمی ﷺ (۶۰) بشربن الحارث ﷺ (۶۱) سعيدبن عمرو سهمی ﷺ دبشربن الحارث ناسکه وروردی (۶۲) سعيدبن الحارث سهمی ﷺ (۶۳) سائب بن الحارث سهمی ﷺ (۶۴) عمير بن رئاب سهمی ﷺ (۶۵) محميه بن جزء ﷺ (۶۶) معمربن عبدالله ﷺ (۶۷) عروه بن عبدالعزی ﷺ (۶۸) عدی بن فضله ﷺ (۶۹) نعمان بن عدی ﷺ دعدی ﷺ بن فضله زوی (۷۰) عامربن ربيعة ﷺ (۷۱) ابوسبرة بن ابی رهم ﷺ (۷۲) عبدالله بن مخزمه ﷺ (۷۳) عبدالله

سیف لودین کتابتون

بن سهيل بن عمرو ﷺ (۷۴) سليط بن عمرو ﷺ (۷۵) سكران بن عمر ﷺ يعنى دسليط ورور (۷۶) مالک بن ربيعة ﷺ (۷۷) ابوحاطب بن عمرو ﷺ (۷۸) سعدبن خوله ﷺ (۷۹) ابوعبيده عامربن الجراح ﷺ (۸۰) سهيل بن بيضاء ﷺ (۸۱) عمربن ابى سرح ﷺ (۸۲) عياض بن زهير ﷺ (۸۳) عمروبن الحارث بن زهير ﷺ (۸۴) عثمان بن عبدغنم ﷺ (۸۵) سعدبن عبدقيس ﷺ (۸۶) حارث بن عبدقيس ﷺ ..

(سيرة ابن هشام جلد ۱ /ص /۱۱۱ تر ۱۱۴،، عيون الاثر جلد ۱ /ص /۱۱۶)

ښځينه مهاجر؛

(۱) رقيه ﷺ بنت رسول الله ﷺ (۲) اسماء بنت عميس ﷺ د جعفر ﷺ ميرمن چى دديې له نس څخه عبدالله بن جعفر ﷺ په حبشه کې پيدا سو (۳) فاطمه بنت صفوان ﷺ د عمروبن سعيد ﷺ ميرمن (۴) أمَنيه بنت خلف ﷺ د خالد ﷺ ميرمن (۵) ام حبيبه بنت ابى سفيان ﷺ د عبدالله ﷺ ميرمن د عبدالله ﷺ تروفات وروسته رسول الله ﷺ په نکاح کړه (۶) برکة بنت يسار ﷺ د قيس ﷺ ميرمن (۷) ام حرمله بنت عبدالاسود ﷺ د قيس بن عبدالله ﷺ ميرمن ، (۸) امله بنت عرفانه ﷺ د معيقب بن ابى فاطمه دوسى ﷺ سره (۹) ريطه بنت حارث بن جَبَله ﷺ د عتبه بن غزوان ﷺ ميرمن ددې په حبشه کې موسى ، عائشه او زينب او فاطمه پيدا سو (۱۰) ام سلمة ﷺ د زبيربن عوام ﷺ ښځه چى د هغې له نس په حبشه کې زينب پيدا سوه د ابو سلمه ﷺ ترمړينى وروسته د رسول الله ﷺ ربيبه سوه (۱۱) فاطمه بنت مُجَلَل ﷺ د ابوحذيفه بن عتبه ﷺ ميرمن (۱۲) فکيهه بنت يسار ﷺ د اسودبن نوفل ﷺ ميرمن (۱۳) حسنة ﷺ د يزيدبن زمعه ﷺ ميرمن (۱۴) ام کلثوم بنت سهيل ﷺ د عمروبن اميه ﷺ سره (۱۵) سوده بنت زمعه ﷺ د سکران بن عمر ﷺ ميرمن (۱۶) عمره بنت سعدى ﷺ د مصعب بن عمير ﷺ ميرمن ..

(سيرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۱۱۱، تر ۱۱۴ پورى او عيون الاثر جلد ۱ صفحه ۱۱۶)

ابن هشام د حبشه د مهاجرينو نومونه له نسب او قبيلى سره په ډير تفصيل سره ياد کړى دى او حافظ ابن سيدالناس په عيون الاثر کې کوتاه ياد کړى دى د عماربن ياسر ﷺ په اړه د سيرة د علماء اختلاف دى چى دئ د حبشى له مهاجرينو څخه دى که نه ،او محمدبن اسحق د ابوموسى اشعرى ﷺ نوم د حبشه په مهاجرينو کې راوړى دى،واقدى اونور علماء دا خبره نه منى يوشمير علماء ويلى دى چى د محمد بن اسحق په څير د سيرة امام په دې نه خبريدل له عقل ليرى دى ، حافظ ابن قيم فرمايلى دى چى اصلى خبره داسى دى

ابوموسی اشعری خو دیمن او سید و نکی دی د بعثت په پیل کې مکی مکرمی ته راغلی او په اسلام مشرف سوو روسته یمن ته بیرته ولاړی او کله چې د جعفر رضی الله عنه او نورو صحابه کرام رضی الله عنهم په هجرت خبر سو سمد ستی له یمن حبشه ته راغلی او حبشه یمن ته نژدی وه په دې وجه ابوموسی رضی الله عنه له دیمن څخه حبشه ته هجرت وکی او هلته پاته سو او وروسته بیا له جعفر رضی الله عنه سره په کال ۷ هجری کې و مدینی منوری ته راغلي نو ابوموسی اشعری رضی الله عنه هم دحبشه په مهاجرینو کې شمیرل کیږی که څه هم ده له مکی هجرت نه وکي بلکې له یمن راغلی په همدې وجه محمد بن اسحق ابوموسی اشعری رضی الله عنه دحبشه د مهاجرینو په لړه کی یاد کړی دی ده هغه مهاجرین یاد کړی دی چې وحبشه ته یې هجرت کړی وی نور نو هغه که له مکی تللی وی او که له بله ځای راغلی وی حبشه ته او په دوئ کې ابوموسی اشعری رضی الله عنه هم شامل دی که چیری محمد بن اسحق داسی ویلی وای چې ابوموسی اشعری رضی الله عنه له مکی څخه حبشی ته هجرت کړی دی نو ربنتیا هم د منلو وړ نه وه (۱)

قریشو چې کله ولیدل چې صحابه کرام رضی الله عنهم په حبشه کې آرام ژوند لری او په ډاډه زړه د اسلا م ارکان عملی کوی نو مشوره یې وکړه ، چې عمرو بن العاص او عبدالله بن ابی ربیعه دی له ډیرو تحفو او ډالیو سره د نجاشی پاچا او دهغه د نژدی ملګرو د ملاقات لپاره ولاړ سی دوئ دواړه حبشه ته ورسیدل کله چې عمرو بن العاص او عبدالله بن ابی ربیعه دواړه حبشی ته ورسیدل لومړی یې ټولو بانفوذه خلکو ته تحفی او ډالۍ وړاندی کې او وروسته یې ورته وویل چې زموږ له هیواد یو څو کم عقلان او ناپوهان ستاسو هیواد ته راغلی دوئ د خپلو پلرو دین پری اینښی دی او ستاسو په هیواد کې یې پناه اخیستی ده دوئ د خپلو پلرو د دین له پریښودو سره سره ستاسو دین هم نه دی غوره کړی یعنی عسایان سوی هم نه دی بلکې یو نوی دین یې غوره کړی دی چې هغه نه موږ پیژنو او نه تاسو ، زموږ د قوم مشرانو او سردارانو موږ د پاچا و خدمت ته ددې لپاره رالیږلی یو چې داخلک بیرته موږ ته وسپاري تاسو پاچا ته د اسفارش وکوی چې داخلک بیله څه خبرو موږ ته وسپاری.دوئ دواړه د پاچا دربار ته راغلو او د تحفو او ډالیو په وړاندی کولو سره یې خپله غوښتنه وکړه د پاچا نژدی خلکو او وزیرانو د دوئ خبره تائید که عمرو بن العاص او عبدالله بن ابی ربیعه ته دا خبره ډیره ګرانه وه چې د حبشی پاچا صحابه کرام رضی الله عنهم راوغواړی او له هغوئ څخه پوښتنی وکوی یا د هغوئ خبری واوری ،

لو ستونکی په دې ښه پوهیږی چې د صحابه کرامو رضی الله عنهم راغوښتل و دربار ته او د دوئ سره د باچا خبری کول ولی د قریشو نه و خوښ دوئ ولی دا غوښته وکړه چې پاچا دی بی له څه خبرو دا خلک موږ ته وسپاری دلیل یې ښکاره او څرګند دی هغه دا چې دوئ په دې ښه

(۱) زادالمعاد جلد ۲ صفحه ۴۵ - فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۴۳)

سیف لودین کتابتون

پوهیدل چې دصحابه کرام رضي الله عنهم له ژبې دحق آواز راوزي او هغه په زړه کې دننه ځای نیسي هسې نه چې دنجاشي په زړه کې ځای ونیسي لکه چې همداسې وسو،

دپلاوي غړي دپاچا ودربارته راغله اوخپله غوښتنه یې وړاندې که دنجاشي وزیرانو اونژدې خلکوهم دپلاوړي خبره تائید که چې داخلک بایدودې پلاوی ته وسپارل سي د کوم شئ چې زموږ ویره وه وه هغه راپیښ سو، نجاشي په غصه سودوئ ته یې وویل چې زه په پټو سترګو اوبیله خبروتاسوته دوئ نه سم سپارلای داځنګه کیدای سي چې څوک خپل هیواد پریږدي اوزما پاچهي ته راسي هغه زه بیله څه پوښتنې اوپلټنې دهغوئ ودښمنانوته وسپارم، نجاشي یوسړیوصحابه کرام ﷺ ته له پیغام سره ولیږی چې له تاسودې یوتن راسي قاصد پیغام ورسوی وصحابه ﷺ ته صحابه کرام رضي الله عنهم په خپل مینځ کې مشوره سره وکړه یوه وویل چې کله دنجاشي دربارته ولاړسو نوڅه به وایو پاچا عیسائي دی اوموږ مسلمانان یو په ډیروعقائدوکې زموږ اودده اختلاف دی خوټولو په یوه خوله وویل چې موږ به دباچاپه دربارکې هغه خبرې کوو کومې چې موږ ته زموږ نبي ﷺ ښودلي دي هرڅه چې کیږي له هغو به یوه زره تجاوزاو تیری نه کوو، صحابه کرام ﷺ دنجاشي دربارته راغلو اوسلام یې سلام واچوی دوئ یوه هم باچاته سجده ونه کړه بلکې یوائې په سلام یې بسنه وکوله دباچانژدې خلکو ته دمسلمانانو دغه کار ډیر بد ښکاره سو ځکه دد ربار خلکوله مسلمانانوپوښتنه وکړه چې تاسوولې پاچاته سجده ونه کوله اوپه یوروایت کې راغلي دي چې پاچاپه خپله هم داپوښتنه وکړه چې تاسوولې سجده ونه کړه ؟ جعفر ﷺ ځواب ورکی موږ پرته له الله ﷻ بل هیچاته سجده نه کوو الله ﷻ موږته یورسول رالیږلی دی هغه موږته داحکم کړی دی چې له الله ﷻ پرته هیچاته سجده مه کوي ، مسلمانانو وویل موږ خپل رسول ﷺ ته هم همدغه رنګه سلام کوو اوپه خپل مینځو کې هم همدا سلام اچوو اورسول الله ﷺ فرمایلي دي چې جنتیان به هم یوبل ته دغه شان سلام اچوی اوپاته سوه سجده موږ دالله ﷻ ساتنه غواړو چې موږ پرته له الله ﷻ بل چاته سجده وکوو اوتاله الله ﷻ سره برابرکو نجاشي صحابه کرامو ﷺ ته وویل تاسو د عسایت اودبتانو له عبادت پرته بل دین غوره کړی دی هغه کوم دین دی چې تاسوغوره کړی دی ؟ دصحابه کرام ﷺ په ټولې کې جعفر ﷺ دپاچادځواب دپاره ولاړسو داسې یې

دنجاشي په دربارکې دجعفر رضي الله عنه زړه راکښونکي تقریر اوپه نجاشي باندې دهغه آثر :

اې پاچا ؛ موږ ټول جاهلان اوناپوهان وو دبتانوعبادت موکوی اومرداری به موخوړلې په رنګارنګ فحاشې اوبې حیایې اخته وو ، خپلوی موپریکولې له ګاونډیانوسره موبدچلند کوی ، په موږ کې چې څوک زورور وو هغه غوښتل چې کمزوري وخوړل سي په همدې وخت کې الله تعالی پر موږ خپل فضل اومهرباني وکړه اوله موږ څخه یې یوتن

پیغمبر ﷺ راولیږی چی دهغه نسب ، حسب ، رښتنیوالی ، امانت ، پاک لمنی ، موږ ډیر ښه پیژنو هغه موږ دالله ﷻ خواته راوبللو ، چی موږ یواځی الله ﷻ ومنو اوهغه یووګڼو ، یواځی دهغه عبادت اوبندګی وکوو ، اودکوموبتانواوکانوچی موږ اوزموږ پلرواونیکه ګانوعبادت کوی هغه ټول پریږدو ، درښتیاویلو ،امانت،صله رحمی ،اوله ګاونډیانو سره دښه چلند ، اودوینی تویولو ، اوحراموخبرودنه کیدلوامریې راته وکی ، اوله هر قسم بی حیائی ، اوله دروغو اودروغ له ویناڅخه ، اودیتیم دمال له خوړلوڅخه اوپه پاک لمن ښځه باندی له تورپوری کولوڅخه ، یې موږ منع کړو اوداحکم یې راته وکي چی یواځی دیوه الله ﷻ عبادت اوبندګی کوی له هغه سره هیڅ شریک مه نیسی ، لمنځونه کوئ ، زکوة ورکوی ، روژه نیسی ، ځان اومال دالله ﷻ په لاره کې مه سپموئ ،

حضرت جعفر ؓ له دې پرته دنورو اسلامی تعلیماتوهم یادونه وکړه ، اووې فرمایل بیاموږ دهغه نبی تصدیق وکی اوپه هغه موایمان راوړی اوهرهغه څه چی ده دالله ﷻ له لوری راوړی دی دهغه پیروی مووکړه موږ دیوه الله ﷻ عبادت کوو ، اوله هغه سره هیڅ شریک نه نیسو ، حلال شیان خورو اوله حراموځان ساتو یواځی پردې خبروباندی زموږ قوم زموږ سره رنګارنګ ظلمونه وکړه اورنګارنګ تکلیفونه یې راورسول ددې لپاره چی موږ دیوه الله ﷻ عبادت اوبندګی پریږدو اوپه جاهلیت اوبی حیایی کې بیرته اخته سو کله چی موږ ددوئ له ظلمونوډیر تنګ سو اوپه خپل دین باندی عمل کول اودیوه الله ﷻ عبادت کول ګران سو نوموږ خپل هیوادپریښودی ، اوپه دې هیله چی ته به ظلم اوتیری نه راسره کوی ، ستاګاونډی توب ته موږ ترنوروځایوترجیح ورکړه،نجاشی وویل آیاتاسو ته دهغه له خبروڅخه یاددی ، کوم چی ستاسوپیغمبر دالله ﷻ له لوری راوړی دی ؟ جعفر ؓ وفرمایل هو ، نجاشی ورته وویل دهغه خبروڅخه څه وماته واوروه ؟ جعفر ؓ دسورة مریم لومړی آیاتونه ولوستل ، دپاچااودهغه دټولودرباریانواوښکی وبهیدی ، دومره یې وژړل چی دپاچاږیره په اوښکولمده سوه ،

(له دې معلومه سوه چی پاچاږیره درلودله اوږیره دټولوانبیاء علیهم السلام سنت پاته سوی دی معاذالله هیڅ پیغمبر ﷺ هیڅ کل ږیره نه ده وهلی ږیره ساتل دانبیاء اورسولانو علیهم السلام سنت او طریقه دی)

کله چی جعفررضی الله عنه تلاوت پای ته ورسوی(۱) نجاشی وویل داکلام اوهغه کلام چی عیسی ؑ راوړی وو دواړه له یوه شمع دان راوتلی دی ، نجاشی دقریشوپلاوی ته

(۱)په دلائل ابی نعیم جلد۱ صفحه ۸۱کې راغلی دی ، فقرأ علیهم جعفرسورة مریم فلماسمعها عرف انه الحق ،، جعفر ؓ دسورة مریم تلاوت نجاشی واوریدی نووې پیژندل چی داحق دی جعفر ؓ ته یې وویل ، زدنا من هذالکلام الطیب ، اې جعفر ؓ داپاک کلام لږنورهم راته ولوله جعفر ؓ یوبل سورة هم ولوستی نجاشی چی واوریدی وې ویل بیشکه داحق دی تاسورښتیاوویل اوستاسونبی ﷺ هم رښتیاویلی دی اوقسم په الله ﷻ تاسوپه سمه لاره یاست دالله ﷻ په نامه باندی دلته په امن اومان سره اوسیږی ..

سيف لودين كتابتون

په داګه وویل چی زه داخلک هیڅ وخت هم تاسوته نه سپارم او نه ددې امکان سته کله چې عمرو بن العاص او عبدالله بن ابی ربیعه دپاچاله درباره ناامیده راووتل نو عمرو بن العاص وویل چی زه به صبا دپاچا په مخکې داسی خبری کوم چی په هغو سره به داخلک بیخی نیست اونابود سی، عبدالله بن ابی ربیعه وویل داکار مه کوه ځکه دوئ که څه هم زموږ ددین مخالفین دی مګر زموږ خپلوان دی او په دوئ کې زموږ نژدی قریبان شته خو عمرو بن العاص له خپلی خبر نه اوښتی، بله ورځ بیا عمرو بن العاص دنجاشی دربارته راغلی ونجاشی ته یې وویل اې پاچا داخلک دعیسی ؑ په شان کې ډیری ناوړه خبری کوی، نجاشی صحابه کرام ؓ راوغوښتل صحابه کرام ؓ په دویم ځل غوښتنه ډیر اندیښمن سو یوه وویل چی پاچاته به دعیسی ؑ په اړه څه وایو، خو په دې خبره باندی دټولو اتفاق سو چی قسم په الله ﷻ موږ به هغه خبره کوو کوم چی الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ فرمایلی دی هرڅه چی کیږی موږ به دهغه یوه زره هم خلاف خبره نه کوو، صحابه کرام ؓ دپاچادربارته بیاراغله، نجاشی صحابه کرام ؓ ته وویل چی تاسو د عیسی ؑ په هکله څه وایاست؟

جعفر ؓ وفرمایل: موږ دده په اړه هغه څه وایو کوم چی زموږ نبی ﷺ فرمایلی دی، هغه دادی، چی عیسی ؑ دالله ﷻ بنده اودهغه رسول دی اودالله ﷻ خاص روح اودالله ﷻ خاص کلمه وه، نجاشی له ځمکی یوه خاشه راپورته کړه وې ویل قسم په الله ﷻ مسلمانانو چی څه ویلی دی عیسی ؑ که دهغه څخه دیوی خاشی په اندازه هم زیات وی په دې خبره باندی ددربارخلکوډیر تعجب وکړ مګر نجاشی یوه ذره پرواهم ونه کوله اوښکاره یې وویل چی تاسوچی هرڅه وایاست (۱) مګر حقیقت همدادی لکه مسلمانانوچی وویل وروسته یې مسلمانانوته وویل تاسوپه امن یاست په امن سره او سیږی دسروزرو دغره په بدل کې هم پرتاسوظلم نه خوښوم اوحکم یې وکی چی دقریشوټولی ډالۍ اوتحفی بیرته وروسپاری ماته ددوئ دتحفوهیڅ اړتیانسته والله ﷻ ماته زماپاچهی اوزماهیوادبیله رشوته راکړی دی له دې وجی زه ستاسوڅخه په رشوت اخیستوسره داخلک تاسوته هیڅکله هم نه سپارم، ددربارمجلس پای ته ورسیدی اومسلمانان په ډیره خوشالۍ اوسرلوړی سره اودقریشوپلاوی په ډیرذلت اورسوایي اوپښیمانتیاسره دباندی راووتل، (۲)

---

(۱) دابوموسی اشعری ؓ په روایت کې راغلی دی چی وروسته نجاشی وویل، مرحبابکم وبمن جئتم من عنده اشهدانه رسول الله وان الذی بشر به عیسی لولاما انافیه من الملک لاتیته حتی اقبل نعلیه ژباړه: هرکله راسی تاسواوهغه څوک چی تاسویې رالیږلی یاست زه شاهدی ورکوم چی دادالله ﷻ ربښتینی رسول ﷺ دی اوربښتیاهم پیغمبردی داسی پیغمبردی چی عیسی ؑ دهغه زیری ورکړی دی اوکه دپاچهی کارونه نه وای نوخامخابه زه دهغه په خدمت کې حاضرسوی وم اودهغه څپلۍ به می ښکل کړی وی، وروسته یې مسلمانانوته وویل چی ترکومه وخته پوری تاسوغواړی زماپه پاچهی کې اوسیږی اودخوراک اوجاموحکم یې هم زموږ دپاره وکی (رواه الطبرانی ورجاله رجال الصحیح مجمع الزوائد جلد ۶ صفحه ۳۱، باب هجرة الی الحبشه)

(۲) مسند احمد جلد ۱ صفحه ۲۰۱، حدیث جعفربن ابی طالب ؓ فی الهجرة) قال الحافظ الهیثمی رواه احمد ورجاله رجال الصحیح غیر محمدبن اسحق وقدصرح بالسماع مجمع الزوائد جلد ۶ صفحه ۶۷ سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۱۱۵)

سیف لودین کتابتون

داټول تفصیل په مسند احمداوسیرة ابن هشام کی ذکرسوی دی یواځی په دربارکې دصحابه ؓ سجده نه کول په عیون الاثرکې جلد۱ صفحه ۱۱۸) کې اجمالایاده سوی او په دلائل ابی نعیم جلد۱ صفحه ۸۱کې تفصیلادسجدی نه کول یادسوی دی اوپه مجمع الزوائدباب الهجرة الی الحبشه په ډیرو روایتوکې ددې مضمون ښکاره موجوددی جلد ۶ صفحه ۲۳څخ تر ۳۳پوری ،

زهری رحمة الله علیه فرمایلی دی چی مادام سلمه رضی الله عنها دامفصل حدیث عروة بن الزبیر ؓ ته بیان کی نوعروه ؓ ماته وویل چی ته په دې خبریې چی نجاشی داخبره ولی وکړه چی الله جل جلاله ماته پرته له رشوت زماپاچهی بیرته راکړه ددې څه مطلب ډی ؟ ماوویل نه ، عروه ؓ وویل چی ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها ماته بیان کړی دی چی دنجاشی پلاردحبشی پاچاوو دنجاشی څخه پرته دده بل زوی نه وو دپاچا دورور یعنی دنجاشی داکادوولس زامن وو دحبشی خلکودافکروکي چی نجاشی خو د پلاریوزوی دی اودپاچاورور ډیر زامن لری په دې وجه پاچابایدووژل سی اودپاچا ورور یقی دنجاشی اکابایدپاچاسی ځکه دده ډیر زامن اوترډیره وخته به دواک لړی په همدې کورنۍ کې روانه وی کله چی دوئ دنجاشی پلارووژی اودپاچاوروریې پاچاکی نجاشی دخپل اکاپه تربیه اوپالنه کې اوسیدی نجاشی ډیر هوښیارزیرک اوپوه وو په دې وجه دده اکادده دومره درناوی کوی چی دبل هیچانه وودپاچاپه هرکارکې به دنجاشی مشهوره وه دحبشی خلکو ته دده له ډیری هوښیارتیادااندیښنه پیداسوه چی هسی نه چی دخپل پلار رغچ اوبدله له اکاڅخه واخلی په دې وجه یې له پاچاڅخه غوښتنه وکړه چی داهلک بایدووژل سی پاچاوویل تاسوخومخکې دده پلارووژلی اواوس بیا ددې هلک وژل غواړی زه خوداکارنه سم کولای خوډیرڅه چی وکوم هغه دادی چی زه دئ له ځانه بیل کړم خلکوورسره ومنله اونجاشی یې دپاچاڅخه بیل کی دیوتاجرپه لاس یې په شپږسوه درهمه خرڅ کی تاجر نجاشی رانیوی او روان سو په همدغه ماښام ناڅاپه په پاچاباندی بریښنا ولویده پاچا مړ سوخلک ډیر اندیښمن سو چی واک چاته وسپاری ځکه ، دپاچادوولس زامن له سره ترپایه ټول ناپوهان اوبی عقلان وو په همدې وخت کې دټولو خلکوپردې رایه اتفاق راغلی چی که دخپل هیوادبریالیتوب غواړي نونجاشی بیرته راولی اوپرتخت یې کښینوی ، سمدستی یې په نجاشی پسی خلک ولیږل چی نجاشی بیرته راولی دوئ په نجاشی پسی ولاړل اوهغه تجاریې پیداکی نجاشی یې بیرته خپل هیوادته راوستی اوپه تخت یې کښینوی له تخت کښینولووروسته هغه تاجرراغلی او د خپلوپیسوغوښتنه یې وکړه نجاشی دتجارشپږسوه درهم بیرته ورکړه، ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایې چی دنجاشی دقریشوپلاوی ته داخبره چی الله تعالی ماته خپله پاچهی پرته له رشوت بیرته راکړه هم دې بیرته ته اشاره وه (۱)

(۱) البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۷۵

سيف لودين كتابتون

دنجاشی له دې اعلان وروسته مهاجرین په ډاډه زړه په حبشه کې پاته سو کله چی رسول الله ﷺ مدینی منوری ته هجرت وکی ډیرو صحابه کرام رضی الله عنهم دخبرله اوریدو سره سم له حبشه څخه مدینی ته راغلل چی په دوئ کې څلیرویشت نارینه دبدرپه غزاکې ګډون وکي او پاته نورمهاجرله جعفر رضی الله عنه سره یوځای په کال ۷ هجری دخیبر له فتح وروسته له حبشی څخه مدینی منوری ته راغله (۱)

دقریشو له هیئت څخه دجعفر رضي الله عنه درې پوښتني

عروه بن الزبیر رضی الله عنه وایې کله چی جعفر رضی الله عنه نجاشی ته وویل چی زه له دې خلکو څخه څه پوښتنی کوم ته له دوئ څخه دځواب غوښتنه وکوه ؟ لومړی پوښتنه ، آیامونږ دچامریان یو چی دخپلومالکانو څخه راتښتیدلی یو که داسی وی نوبیشکه مونږ دسپارلوو ړیو ، نجاشی وعمروبن العاص ته وویل چی آیادوئ دچامریان دی ؟ عمروبن العاص وویل (لَابَلْ اَحْرَارٌ) نه مریان نه دی بلکې آزاداوعزتمندخلک دی .دویمه پوښتنه جعفر رضی الله عنه نجاشی ته وویل ته له دوئ څخه پوښتنه وکوه چی آیامونږ دچاوینه توی کړی اودلته راغلی یو که مونږ دچاناحقه وینه توی کړی وی اودلته راغلی یو نوته پرته له څه فکرکولو مونږدوژل سویو ووارثانوته وسپاره ، نجاشی عمرو بن العاص ته ویول (هل اهرقوادمابغیرحقه) آیا دوئ ناحقه وینه توی کړی ده اودلته راغلی دی ؟ عمروبن العاص ورته وویل (لاقطرة من دمٍ) نه دوینی یوڅاڅکی یې هم نه دی توی کړی ، دریمه : جعفر رضی الله عنه نجاشی ته وویل ته له دوئ داپوښتنه وکوه ، چی آیامونږ دچامال په زور اخیستی دی اوراتښتیدلی یو که داسی وی مونږ دچامال اخیستی وی نومونږ دهغه داداکولودپاره تیاریو نجاشی عمروبن العاص ته وویل که دې خلکودچامال اخیستی وی دلته یې راوړی وی نوزه ددوئ کفیل او ضامن یم اوددې تاوان ذمه واریم ؟ عمرو بن العاص وویل (ولاقیراط) نه دې خلکو یوه روپۍ هم دچانه دی وړی نجاشی دقریشوهیئت وویل نوبیادڅه شی غوښتنه لری ؟

عمروبن العاص وویل : مونږاودوئ دواړه په یوه دین باندی وو په همدې دین باندی ولاړوو دوئ هغه دین پریښودی اویونوی دین یې غوره کی ، نجاشی صحابه کرام رضی الله عنهم ته وویل کوم دین تاسوپری ایښی اوکوم نوی دین تاسوغوره کړی دی هغه څنګه دین دی ؟

جعفررضی الله عنه وویل :امّاالذی کناعلیه فدین الشیطان وامر الشیطان نکفر بالله ونعبدالحجارة واماالذی نحن علیه فدین الله عزوجل نخبرک ان الله بعث الینا رسولا کمابعث الی الذین من قبلنا فاتانا بالصدق والبر ونهانا عن عبادة الاوثان فصدقناه وامنا به واتبعناه فمافعلنا ذلک عادانا قومنا وارادوا قتل النبی الصادق وردنافی عبادة الاوثان ففرنا الیک بدیننا ودمائنا ولو اقرنا قومنا لاستقررنا فذلک خبرنا

سیف لودین کتابتون

ژباړه : هغه دین چې موږ مخکې پرولاړوو هغه د شیطان دین وو او د شیطان حکم وو هغه داسې دین وو چې موږ د الله ﷻ څخه منکروو د کاڼو عبادت به مو کوی ، او اوس چې په کوم دین ولاړیو هغه د الله ﷻ دین دی الله تعالی موږ ته یو رسول ﷺ را ولیږی لکه څنګه چې یې تر موږ مخکې امتوته انبیاء او رسولان علیهم السلام رالیږلی دی نو هغه رسول ﷺ موږ ته رښتیا او نیکی راوړه او موږ یې د بتانو له عبادت څخه منع کړو موږ د هغه تصدیق وکې او ایمان مو پر راوړی او د هغه پیروی مو وکړه ، پر دې خبره زموږ قوم زموږ د ښمنان سو او د دې رښتینی نبی په وژلو یې اتفاق وکې او دا اراده یې وکړه چې موږ بیرته د بتانو عبادت ته وګرزوی، موږ د خپل دین او خپلو ځانو د خوندی ساتلو په وجه ستا خواته را وتښیدو که زموږ قوم موږ ته په خپل وطن کې ځای راکولای نو موږ نه ځنی راوتلو دا زموږ قصه وه (۱)

جعفر رضی الله عنه او دهغه ملګرو چې کله د حبشې څخه و مدینې منوری ته د تلو اراده وکوله نو نجاشی د ټولو د سفر خرڅ او د لارې توښه ورکړه او څه ډالۍ او تحفې یې هم وکړی او ویو قاصدیې ورسره کې دا یې ورته وویل چې ما چې څه ستاسو سره کړی دی د هغه خبر محمد صلی الله علیه وسلم ته ورسوی، او زه د دې خبرې شاهدی ورکوم چې له الله ﷻ پرته هیڅوک د عبادت لائق نسته او د دې خبرې شاهدی ورکوم چې بیشکه ته د الله ﷻ رسول ﷺ یې او ستا څخه دا غوښتنه کوم چې ته زما لپاره د بخښنې دعا وکوی ؟

جعفر رضی الله عنه فرمایې : موږ د حبشې څخه راروان سو او نبی کریم ﷺ ته راغلو هغه موږ ته غاړه راکړه وې فرمایل چې زه نه پوهیږم چې د خیبر په فتح ډیر خوشاله یم او که د جعفر رضی الله عنه په راتګ سره بیا نبی کریم ﷺ کینستی د نجاشی قاصد په ولاړه عرض وکې یا رسول الله ﷺ دا جعفر رضی الله عنه ستا مخ ته دی ته له ده پوښتنه وکړه چې زموږ پاچاله دوئ سره څنګه چلند کړی دی ؟ جعفر رضی الله عنه وفرمایل : بیشکه نجاشی زموږ سره داسې او داسې معامله وکړه او د راتګ په وخت کې یې موږ ته سورلۍ هم راکړی او توښه یې راکړه او زموږ ډیره مرسته یې وکړه او دا شاهدی یې ورکړه چې د الله ﷻ پرته څوک د عبادت لائق نسته او دا شاهدی یې هم ورکړه چې ته رښتیا د الله ﷻ رسول ﷺ یې او له تا څخه یې دا غوښتنه وکړه چې ته زما لپاره د بخښنې دعا وکړه ، نبی کریم ﷺ سمدستی ولاړ سو او دس یې وکې او درې ځله یې دا دعا وکړه (اللهم اغفر للنجاشی) اې الله ﷻ ته نجاشی ته بخښنه وکوی .

او ټولو صحابه کرام رضی الله عنهم آمین پر وایو ، جعفر رضی الله عنه فرمایې ما قاصد ته وویل چې ته کله بیرته ولاړ سې نو څه چې تا د نبی کریم ﷺ څخه ولیدل هغه پاچا ته بیان که ، (۲)

---

(۱) دلائل ابی نعیم جلد ۱ صفحه ۸۰)

(۲) رواه الطبرانی من طریق اسد بن عمر و مجالد وکلاهما ضعیف وقد وثقا مجمع الزوائد جلد ۶ صفحه ۳۰ باب الهجرة الی الحبشه)

سيف لودين كتابتون

دعمرفاروق رضي الله تعالي عنه داسلام راوړلو اصلي اوحقيقي سبب درسول الله صلي الله عليه وسلم دعاء وه ؛ (۱)

لومړی نبی کریم ﷺ دادعاوکړه :اې الله ﷻ له ابوجهل او عمربن خطاب څخه چی کوم یوستاپه نزد ډیر خوښ وی په هغه سره اسلام ته عزت ورکړی (رواه احمدو الترمذی وقال حدیث حسن صحیح)

ابن عساکرفرمایلی دی ، تردې دعاوروسته دوحی په ذریعه نبی کریم ﷺ ته دامعلومه سوه چی ابوجهل اسلام نه راوړی نووروسته نبی کریم ﷺ خاص دعمربن خطاب رضی الله عنه لپاره دعاوکړه ، اووې ویل (اللهم ايد الاسلام بعمر بن الخطاب خاصةً) اې الله ﷻ ته خاص په عمربن خطاب رضی الله عنه سره اسلام ته قوت اوغلبه ورکړی (داحدیث په سنن ابن ماجه اومستدرک دحاکم کې ذکرسوی دی حاکم لیکی چی داحدیث دبخاری اومسلم په شرط باندی صحیح دی حافظ ذهبی رحمة الله علیه هم دحاکم موافقت کړی دی ، لنډه داچی دعمرفاروق رضی الله عنه داسلام اصلی اوحقیقی لامل دنبی کریم ﷺ دعاوه اوظاهری سبب یې دادی چی له عمر رضی الله عنه څخه په خپله روایت سوی دی ، عمر رضی الله عنه وایې چی زه په پیل کې درسول الله ﷺ ډیرسخت دښمن او مخالف وم اوله دین اسلام څخه می سخت نفرت کیدی اوډیرځنی بیزاره وم ، ابوجهل دا اعلان کړی وو چی که هرچامحمدصلی الله علیه وسلم ووژی دهغه په بدل کې زه سل اوښان انعام ورکوم ، عمر رضی الله عنه وایې چی زه خپله ابوجهل ته ورغلم اوپوښتنه می ځنی وکړه چی تاداسی خبره کړی آیاربښتیاهم ته سل اوښان په بدل کې ورکوی ، ابوجهل وویل هوزه سل اوښان هغه سړی ته ورکوم ، عمر رضی الله عنه وایې چی زه دنبی کریم ﷺ دوژلوپه نیت له هغه ځایه راروان سوم توره می راواخیسته ، په لاره کې په یوسخوندرکی باندی زماسترګی ولګیدی چی خلکودهغه دحلالولواراده کړی وه،زه هم دننداری لپاره ودریدم ناڅاپه می د دسخوندر کیله نس څخه داآوازواوریدی (یاال ذریح امرٌ نجیح رجلٌ یصیح بلسانٍ فصیح یدعوالی شهادة ان لا اله الاالله وان محمدارسول الله) ژباړه :اې ذریح کورنی دخلاصون لاره ده یوسړی په فصیح ژبه سره خبری کوی خلکوته دشهاده ان الااله الاالله وان محمداً رسول الله بلنه ورکوی ، (۲)

عمر رضی الله عنه فرمایې :چی زما ددې آوازپه اوریدوسره سمدستی په زړه کې داخیال پیدا سو چی دا اواز ماته کیږی اوزه ددې آواز مخاطب یم (رواه ابونعیم عن طلحه وعائشه عن عمر (۳)

---

(۱) عمرفاروق رضی الله عنه حبشی ته له لومړی هجرت وروسته اوله دویم هجرت مخکې په کال ۷ نبوی کې په اسلام مشرف سو اوبعضوویلی دی چی په کال ۵ نبوی کې یې اسلام راوړی ، زرقانی جلد ۱ صفحه ۲۷۲)
(۲)اودسخوندرکی دآوازاوریدوپیښه په صحیح بخاری کې هم یاده سوی (صحیح بخاری ، باب اسلام عمر)
(۳)فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۳۸)

سيف لودين كتابتون

مګر عمر رضی الله عنه بیاهم دخپلی ارادې څخه مخ نه واړوی او په خپله مخه روان سو څو ګامه مخکې چې ولاړی نعیم بن عبدالله بن نحام ورسره مخامخ سو او پوښتنه یې ځنی وکړه چې په دې غرمه کې په څه نیت روان یې ؟ عمر رضی الله عنه وویل دمحمد ﷺ دوژلو په نیت، نعیم ورته وویل دمحمد ﷺ په وژلو سره به دبنی هاشم او بنی زهره څخه ځنګه خلاص سی عمر رضی الله عنه وو یل زما په فکر ته هم بی دینه سوی یې او دخپل پلار دین دی پری ایښی دی نعیم ورته ویل ته ماڅه کوی ته خبر نه یې چې ستاخور فاطمه بنت خطاب رضی الله عنها او ستا اخښی سعید بن زید رضی الله عنه دواړه صابیان سوی دی او ستا دین یې پری ایښی دی دین اسلام یې منلی دی

عمر رضی الله عنه ددې خبری په اورېدو سره له غصې تک سور سو دخور کورته ولاړی ، خباب رضی الله عنه دده وخور او اخښی ته تعلیم ورکوی کله چې هغه دعمر رضی الله عنه دپښو ځرپې واورېدې دکور په یوه کونج کې پټ سو ، عمر رضی الله عنه کورته داخل سو او خور او اخښي ته یې وویل کیدای سی تاسو دواړه صابیان سوی یاست اخښی راته وویل اې عمره رضی الله عنه که ستا دین حق نه وی بلکې له دی دین پرته یو بل دین حق وی نو ته راته ووایه چې څه کول په کاردی ، داخښي په دې ځواب سره عمر رضی الله عنه ته نوره غصه ورغله او په وهلو یې پیل وکړ خورېې دمیړه دخلاصون لپاره راغله هغه یې هم دومره ووهله چې پرمخ یې وینی راغلی ، په همدحالت کې خور و عمر رضی الله عنه ته وویل اې دخطاب زویه ستا چې څه په وس کیږی هغه وکوه موږ دواړه مسلمانان یو ،اې دالله ﷻ دښمنه؛ته یوائی په دې وجه موږ وهی چې موږ الله ﷻ یو بو لو ځان پوه که چې موږ اسلام راوړی دی که څه هم ستا پزه په خاورو سپیره سوی ده .

عمر رضی الله عنه ددې خبری په اورېدو سره څه وشرمیدی او وې ویل ښه تاسو هغه کتاب څه کی چې تاسو لوستی ماته یې ووایاست ، ددې خبری په اورېدو سره خباب رضی الله عنه هم راووتی چې دکور په یوه کونج کې پټ و ،دده خور ورته وویل (انک رجس وانه لایمسه الاالمطهرون فقم فتوضأ) ته ناپاک یې او قرآن پاک دی پاک خلک یې مسه کولای سی اودس وکه او راسه .

عمر رضی الله عنه ولاړ سو په یوه روایت کې راغلی دی چې اودس یې وکې او په بل روایت کې راغلی دی چې غسل یې وکی او هغه پاڼه یې په لاس کې ونیوه په هغه پاڼه کې سورة طه لیکل سوی په لوستلویې پیل وکړ کله چې ودې آیت ته ورسیدی ﴿إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ (۱۴) سورة طه) ژباړه : زه دعبادت لائق یم زما څخه پرته هیڅ دعبادت لائق نسته زما عبادت کوئ او لمونځ زما دیادولو دپاره قائم کی .

ناڅاپه یې له خولې ووتل ، مااحسن هذا الکلام واکرمه ، څومره ښائسته او عزتمند کلام دی ، خباب رضی الله عنه چې دعمر رضی الله عنه داخبره واوریده وې ویل ، اې عمره رضی الله عنه ته دې خوشاله یې زه امیدلرم چې درسول الله ﷺ دعا ستا په حق کې قبوله سوه ، عمر رضی الله عنه وویل اې خباب رضی الله عنه

سیف لودین کتابتون

ماهغه ته ورسوه خباب ؓ له ځان سره ملګري کی او دار ارقم ته روان سو هغه ځای ته چی رسول الله ﷺ او صحابه کرام ؓ به سره يوځای کيدل ، دروازه تړل سوی وه وې ټکوله اوددنننه ورتلو اجازه يې وغوښته ، کله چی صحابه کرام ؓ په دې خبرسو چی عمردی هیڅادروازی دخلاصولوجرأت نه درلودی حمزه ؓ وفرمایل : دروازه خلاصه کی اوراسی که الله ﷻ عمر ؓ ته دخير اونيکی اراده کړی وه نو الله ﷻ به ورته هدايت وکی او اسلام به راوړی او دالله ﷻ د رسول ﷺ خبره به ومنی او که داسی نه وو نو تاسو به دالله ﷻ په اراده سره دده له شره خوندی او په امان سی ، او بحمدالله د عمر ؓ مرګ موږ ته څه ګران نه دی ، او په يو روايت کی راغلی دی چی حمزه ؓ وفرمايل که عمر دخير په اراده راغلی وی نوموږ به هم له ده سره دخیر معامله کوو او که دشرپه اراده راغلی وی نو هم دده په توره به يې ووژنو ، رسول الله ﷺ هم ددروازی دخلاصولو اجازه وکړه ، دوازه خلاصه سوه او دوو کسانو دعمر ؓ لاسونه ونیول او دنبی کريم ﷺ مخ ته يې ودروی نبی کريم ﷺ دوئ ته وفرمايل عمر پريږدی عمر ؓ وایې زماکرتی يې ونيوه او دخپل ځان وخواته يې کش کم او وې ویل : اې دخطاب زويه اسلام راوړه او دا دُعايې وکړه (اَللّٰهُمَّ اهْدِهِ) اې الله ﷻ دته هدايت وکوی او په يو بل روايت کې راغلی دی چی داسی يې وفرمايل : اللهم هذا عمر بن الخطاب اللهم اعز الدین بعمر بن الخطاب ، . اې الله ﷻ دا عمر بن خطاب دی اې الله ﷻ په ده سره خپل دين ته عزت ورکړی ، او عمر ؓ ته په خبرو سوورته وې فرمايل اې عمره ؓ آيا ته تر هغه وخت خبرنه منی ترڅو چی الله ﷻ په تا باندی رسوا کونکی عذاب نازل نه کړی عمر فاروق ؓ وویل اې دالله ﷻ رسوله دهمدې لپاره راغلی يم چی ايمان راوړم پر الله ﷻ او دهغه پر رسول ﷺ باندی او په هغه څه چی دالله ﷻ له لوری نازل سوی دی . اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ رسول الله ﷺ ډير خوشحاله سو له ډير خوشحالی څخه يې په لوړ آواز دالله اکبر نعره وکړه دنبی کريم ﷺ دغږ په اوريدو دکورټول غړی په دې پوه سوچی عمر ؓ اسلام ومنی داټوله پيښه په سيرة ابن هشام او عيون الاثر کې ذکرسوی ده ،

علامه زرقانی ليکی چی دعمرفاروق ؓ داسلام داتفصيلی بيان په مسند بزار او معجم طبرانی او دارقطنی کی له انس ؓ څخه او په دلائل بيهقی کې له ابن عباس ؓ څخه او په دلائل ابی نعيم کې له طلحه ؓ او عائشه صديقه ؓ روايت سوی دی (۱) ابن عباس ؓ فرمايې : کله چی عمر فاروق ؓ مسلمان سو جبرئيل ؑ راکښته سو اووې فرمايل اې محمد ﷺ ټول آسمان والا دعمر ؓ په اسلام خوشاله دی (رواه ابن ماجه والحاکم وصححه وقال الذهبی فيه عبدالله بن خراش ضعفه الدارقطنی (۲)

(۱) زرقانی جلد ۱ صفحه ۲۷۶

(۲) عيون الاثر جلد ۱ صفحه ۱۲۶ طبقات ابن سعد جلد ۲ صفحه ۱۹۳

سیف لودین کتابتون

له کله چې عمرفاروق ؓ اسلام راوړی په هم هغه ورځ دین اسلام عزتمند او ښکاره سو او داسلام غلبه پیل سوه په ښکاره په حرم کې لمونځ اداء سو او په ډاګه داسلام دعوت او تبلیغ شروع سو او له هم هغې ورځې حق له باطل په ښکاره بیل سو رسول الله ﷺ ځکه عمر ؓ ته دفاروق لقب ورکړ (۱)

عمر ؓ چې کله اسلام راوړی نو دا فکرېې وکی چې په خپل اسلام راوړلو داسې څوک خبر کې چې هغه دخبرېه ورلوکې ښه استاذ وی ددې لپاره چې ټول خلک په دې خبرسی چې عمر ؓ اسلام قبول کړی دی ، عمرفاروق ؓ وایې زه جمیل بن معمرورغلم ځکه هغه په خبررسولوکې ډیر مشهوروورته ومی ویل اې جمیل ته په دې خبرېې چې زه مسلمان سوی یم ، جمیل ددې خبری په اوریدوسره سمدستی ولاړسوپټوېې پراوړو واخیستی او مسجد حرام ته په منډه منډه ورسیدی هغه ځای ته چې دقریشو مشران به یوځای سره کیناستل جمیل هم هلته ورسیدی او په لوړ آواز یې وویل اې خلکوزما خبره واوری عمرصابی سوی دی ، عمرفاروق ؓ وایې زه هم له شاورپسې روان وم ، ما وویل نه داسې نه دی جمیل غلط وایې زه صابی سوی نه یم بلکې ماحق دین منلی دی او داشاهدی می ورکړی چې له الله ﷻ پرته هیڅوک دعبادت لائق نسته او محمد ﷺ دالله ﷻ بنده او رسول ﷺ دی ، ددې خبری په اوریدوسره خلک سمدستی پرعمرفاروق ؓ راټول سو وهل ډبول پیل سوپه همدې وخت کې رناسوه ناڅاپه عاص بن وائل سهمی زموږ خواته راغلی عاص پوښتنه وکړه چې څه پیښه ده خلکوورته وویل عمر ؓ صابی سوی دی عاص ورته ویل نوڅه وسویوسړی دخپل ځان لپاره یودین غوره کړی دی او تاسوهغه په زور له دین اړوی او ستاسوګمان دی چې بنی عدی به خپل سړی (یعنی عمر ؓ) بیله پوښتنې پرېږدی ځی ولاړسی ماعمر ؓ ته پناه ورکړی دعاص په پناه ورکولو سره ټول خلک سره وپاشل سو (۲)

دمکی دمشرکینو پریکړه او داظالمانه پریکړه لیک لیکل دنبوت ۷ کال د محرم الحرام میاشت .

کله چې دقریشو سفیران عمروبن العاص او عبدالله بن ابی ربیعه له حبشې څخه ناکام او شرمیدلی راغله او قریش په دې خبرسو چې نجاشي دجعفر ؓ او دهغه دملګرو ډیر درناوی وکړ او بل لوری ته حمزه ؓ او عمر ؓ هم په اسلام راوړلو مشرف سو چې په دې سره یومخ دقریشو ملاماته سوه او بل داچې ورځ په ورځ دمسلمانانو شمیرزیاتیدی ددوئ هیڅ چل ول دحق دین په مخنیوی کې کار نه ورکوی نو دقریشو ټولو قبیلو په اتفاق

(۱) طبقات ابن سعد جلد ۲ صفحه ۱۹۴) (۲) ابن هشام صفحه ۱۲۱ وقال ابن کثیر هذا اسناد جید قوی کمافی البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۸۲ او دعاص بن وائل دپناه ورکولو پیښه کوتاه په صحیح بخاری کې هم یاده سوی ده ، فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۳۵ باب اسلام عمر بن الخطاب رضی الله عنه (فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۳۵)

سیف لودین کتابتون

سره یوه پریکړه وکړه هغه داسی ، چی له محمد ﷺ او بنو هاشم او د هغوئ له خواخوږو سره به اړیکی شلوی نه به څوک له دوئ سره راکړه ورکړه کوی او نه به نکاح ورسره کوی او نه به راشه درشه ورسره لری ترڅو بنی هاشم موږ ته محمد صلی الله علیه وسلم دوژلو د پاره نه وی سپارلی ، او په همدې مضمون یې یې لیک ولیکی او په کعبه کې دننه یې وځړوی ، منصور بن عکرمه ، دا ظالمانه او قاتلانه لیک ولیکی هغه ته دالله ﷻ له لوری داسزا ورکړل سوه چی لاس یې شل سو او دتل د پاره له لیکلو بیکاره سو ، ابو طالب مجبوره سو له خپلی کورنۍ سره یوځای په شعب ابی طالب کی پناه واخیسته د بنو هاشم او بنو المطلب مسلمانان او کافران ټول له ده سره ملګری وو مسلمانانو د دین په وجه او کافران د کورنۍ او خپلوی په وجه پرته له ابو لهب څکه یو هغه له قریشو سره پاته سو ، درې کاله پرلپسی دې بندیز دوام وکړ (۱) ډیر سخت تکلیفونه لوږی تندی پر دوئ تیری سوی لوږه تردې اندازی ورسیده چی دماشومانو آوازونه به دباندی اوریدل کیدل او قریش به په خوشحالیدل مگر په دوئ کې چی کوم نرم زړی وو پر هغوئ دا خبره ګرانه سوه او ښکاره یې وویل چی تاسو نه ګورئ چی په منصور بن عکرمه باندی څه مصیبت راغلی (۲)

په دې بندیز کې مسلمانانو ته رنګارنګ تکلیفونه ورسیدل مسلمانانو به ذونی پاڼی خوړی اوژوند به یې تیروی سعد بن وقاص ﷺ فرمایی : چی زه ډیر وږی وم یوه شپه زما پښه له یو لامده شئ ولګید سمدستی مې راپورته کې اوترستونی مې تیرکې تر اوسه هم نه پوهیږم چی هغه څه شئ وو ، او سعد بن وقاص یوه بله پیښه هم بیانوی چی یوځل دشپې متیازو ته ووتم په لاره کې می پښه له یو وچ شئ وموښته لاس می ورکښته کی داوښ وچه سوی څرمن وه راپورته می که اوپه اوبو می پریوله او و می سوځله اوبیامی چاړ که اوسفوف می څنی جوړ کی اوله ابو سره یوځای مې وخوړی درې شپې می په همدې څرمن تیری سوی، خبره دې ته ورسیده چی کله به تجارتی قافله مکی ته راغله نو ابو لهب به ورغلی او دا اعلان به یې وکی چی هیڅ یو تجار دی د محمد ﷺ په ملګرو باندی هیڅ شئ په عام نرخ نه پلوری بلکې له هغوئ دی اضعافاً مضاعفه (دوه چنده نرخ اخلی او که تاوان وروررسیدی نوزه دهغه ذمه واریم ، صحابه کرام ﷺ به درانیولو د پاره ښارته راغله مګر دنرخ دلوړوالی دا حالت چی به یې ولیدی نو خالی لاس ونه به بیرته تلل لنډه دا چی له یوی خوا مسلمانان بیوزله وو او له بلی خوا د دښمنانو ظلم او تیری وو او په کورو کې به دماشو مانو دلوږی له لاسه خلک نا ارامه و (۳)

---

(۱) ویل کیږی چی د دی بندیز شروع په کال ۷ نبوی د محرم په میاشت کی وسو (فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۴۷)
(۲) طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۱۳۹ عیون الاثر سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۱۲۲، زاد المعاد جلد ۲ صفحه ۳۶ ، فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۴۶)
(۳) روض الانف جلد ۱ صفحه ۲۳۲)

سیف لودین کتابتون

یو شمیر خلکو به د خپلو خپلوانو دا تکلیف لیدی نو زړه به یې نه ودریدی په پټه به یې دوئ ته څه خوراک او څیښاک توکی لیږل، یوه ورځ حکیم بن حزام (۱) خپلی ترور خدیجه رضی الله عنها ته څه غله دمریی په لاس لیږله چی په لاره کې ابو جهل ولیدی ورته وې ویل آیا ته بنو هاشم ته غله لیږې زه تا هیڅ کله غلی لیږلو ته نه پریږدم او په ټولو خلکو کې به تا رسوا کوم له بل لوری ابو البختری راغلی پوښتنه یې وکړه چی څه پیښه ده ابو جهل بیان ورته وکړ ده ورته وویل څوک چی خپلی ترور ته غله لیږلی ته یې ولی تنګوی ابو جهل په غصه سو او سخت بد رد یې ورته وویل ابو البختری دا وښ یو هډوکی راپورته کی او ابو جهل یې پر سر په ووهی سریې زخمی سو ابو جهل ته له دې وهلو ډیر تکلیف ورسیدی او حمزه ﷺ په شعب ابی طالب کې ولاړ وو او دا پیښه په خپلو سترګو ولیده (سیرة ابن هشام جلد ۱ صفحه ۱۲۳)

دپریکړی ماتول اودلیک پرپانه وَینه مسلط کیدل :

ددې ستونزو او غمو په لیدلو سره دیو شمیر زړه سوانده خلکو ته ددې پریکړی دماتولو فکر پیدا سو تر ټولو مخکې هشام بن عمرو (۲) وویل چی افسوس دې زمونږ پر حال ځکه مونږ خوراک او څیښاک کوو او زمونږ خپلوان په لوږه او تنده کې شپې او ورځې تیروی کله چی به شپه سوه نو یو اوښ غله به یې شعب ابی طالب ته ولیږله او دوئ ته به یې رسوله یوه ورځ هشام بن عمرو ددې خبری لپاره زهیر بن امیه ته ورغلی زهیر دعبد المطلب لمسی او دعاتکه بنت عبد المطلب درسول الله ﷺ دعمه زوی دی هغه ته یې وویل اې زهیره آیا ته په دې خوشاله یې چی ته خوښ خوشاله یې او ستا چی څه خوښ وی هغه خوری اغوندی نکاح کوی او ستا وماماخپلو ته یو شئ هم نه رسیږی قسم په الله ﷻ که دا بو جهل ماماګان وای که یې داسی کړی وای ابو جهل به هیڅ کله ددې پریکړی پروانه وه کړی، زهیر (۲) وویل افسوس دادی چی زه یواځی یم زه څه کولای سم کاشکی چی یو بل ملګری می هم وای نو بیا به زه ددې کار دپاره خامخا ولاړ یدم هشام بن عمرو له دغه ځایه ولاړ سو اود مطعم بن عدی کورته ولاړی او هغه ته یې هم داسی وویل مطعم وویل چی یو بل ملګری هم را ګوره، هشام له دغه ځایه روان سو او ابو البختری او بیا وروسته زمعة بن الاسود ته ورغلی هغه یې هم دخپل ځان ملګری کړل کله چی دوئ پنځه سره دپریکړی و ماتولو ته

---

(۱) حکیم بن حزام دجاهلیت په وخت کې دنبی کریم ﷺ دوست دی له بعثت وروسته یې هم له نبی کریم ﷺ مینه درلوده دمکی په فتح کې په اسلام مشرف سو احسان او صله رحمی دهغه فطری خوی وو حکیم بن حزام رضی الله عنه چی کله دار الندوه دمعاویه رضی الله عنه په لاس په سل زره درهم خرڅ کړ نو عبد الله بن زبیر رضی الله عنه ملامت کړ حکیم رضی الله عنه په ځواب کې ورته ویل اې زما وراره ما ددې دراهمو په بدل کې په جنت کې یو ځای رانیولی دی او هغه یو لک درهم یې ټول په فقیرانو باندی وویشل حکیم رضی الله عنه دیو سل شلو کالو په عمر په کال ۵۰ هجری یا ۴۵ هجری کې وفات سو
(۲) هشام بن عمر رضی الله عنه دمکی په فتح کې په اسلام مشرف سو (اصابه جلد ۳ صفحه ۶۰۵)

سیف لودین کتابتون

تیار سو نوټولو په یوه خوله وویل چی صبا سهار چی کله ټول قریش رایو ځای سی نو هم هلته به دا خبره راپورته کوو ، زهیر وویل پیل به زه کوم ، کله چی سهار سو او خلک په مسجد حرام کی یو ځای سو زهیر ولاړ سو اووې ویل اې دمکی خلکو دا ډیره دافسوس خبره ده چی موږ خوراک او څیښاک کوو جامی اغوندو نکاح کوو اوواده کوو او بنو هاشم له لوږی مری ، قسم په الله ﷻ تر څو چی دا ظالمانه پریکړه ماته نه سی که تر هغه وخت زه کښینم ، ابو جهل وویل په خدای قسم که دا پریکړه هیڅ وخت ماته سی ،

زمعة بن الاسود وویل قسم په الله ﷻ دا پریکړه به خامخا ماتیږی کله چی دا پریکړه لیک لیکل کیدی هغه وخت هم موږ په دې پریکړه نه وو راضی ،

ابو البختری وویل چی زمعة رښتیا وایې موږ هم نه وو په راضی

مطعم وویل بیشکه دوئ دواړه رښتیا وایې ،

هشام بن عمرو بیا د دوئ ټولو تائید وکی ، ابو جهل خبیث چی کله د مجلس دا حالت ولید ی حیران پاته سو ده وویل داسی معلومیږی چی دا خبره دشپی یو ځای سوی ده (۲)

په همدې ورځ رسول الله ﷺ ابو طالب ته وویل چی د پریکړه لیک پاڼه وینو خوړلی ده له دې ټکو پرته (باسمک اللهم) چی دعنوان په شکل د هرلیک په پیل کی لیکل کیږی نور ټول توری وینو خوړلی دی ، ابو طالب دا پیښه د قریشو په مخکې بیان کړه ورته وې ویل چی زما وراره نن داسی خبره کړی ده او زما وراره هیڅ کله دروغ نه دی ویلی او نه دده خبره تر اوسه پوری غلط ثابته سوی ده راځی پر همدې پریکړه وکو که د محمد ﷺ خبر صحی او رښتیا وو نو تاسو به له ظلم لاس اخلی او که غلط ثابت سو نو زه به محمد ﷺ تاسو ته سپارم ستاسو خوښه به وی که یې وژنی او که یې ژوندی پریږدی خلکو وویل چی ابو طالب رښتیا هم ډیره دانصاف خبره وکړه ، په همدې وخت کې هغه پریکړه لیک راوغوښتل سو کله چی یې پاڼه وکتله نو دالله ﷻ له نامه پرته ټول ټکی وینو خوړلی وو ددې په لیدو سره دشرم له کبله دټولو کافرانو څټې لاندی وځړیدی او ددوئ ظلم پای ته ورسیدی په کال ۱۰ نبوی کې ابو طالب او دهغه ټول ملګری له دغه دری څخه دباندی راووتل له دې وروسته ابو طالب حرم ته ولاړی او دبیت الله پرده یې ونیوه ابو طالب او دهغه ملګرو دا دعاوکړه :یاالله ﷻ کوم خلکو چی پر موږ ظلم وکړ او زموږ خپلوی یې پریکړه او زموږ عزت یې حلال وګڼی له دوئ څخه زموږ بدله واخلی ، دا روایت په طبقات ابن سعد کې له ابن عباس ؓ او عاصم بن عمرین قتاده ؓ او ابوبکر بن عبدالرحمن بن الحارث ؓ او عثمان بن ابی سلیمان ؓ او عکرمه ؓ او محمد بن علی ؓ څخه نقل سوی دی (۳)

(۱) زهیر بن ابی امیه ؓ دمکی له فتح وروسته په اسلام مشرف سو (اصابه جلد ۱ ص ۵۵۲)

(۲) تاریخ طبری جلد ۲ صفحه ۲۲۸) ——(۳) طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۱۳۹ تر ۱۴۱ او تاریخ طبری جلد ۲ صفحه ۲۲۹)

ابو طالب په دې باره کې یوه قصیده هم وویله چې د هغې یو شعر داسې دی

اَلَمْ يَأْتِكُمْ اَنَّ الصَّحِيْفَةَ مُزِّقَتْ .... وَاَنَّ كُلَّ مَالَمْ يَرْضَهِ اللهُ يَفْسُدُ

آیا تاسو خبر نه یاست چې هغه پاڼه ذرې ذرې سوه او کوم شئ چې د الله عزوجل نه وي خوښ هغه همدغه شان برباد یږي، خصائص کبری جلد ۱ صفحه ۱۵۱

حافظ ابن کثیر لیکي چې کله چې نبی کریم ﷺ او بنو هاشم په شعب ابی طالب کې حسار و ابو طالب یوه قصیده لامیه ولیکله چې ډیره مشهوره ده (البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۸۶)

د دې پاڼې په راښکته کولو سره درې کاله پرلپسې بندیز پای ته ورسیدی او په کال لسم ۱۰ نبوی کې یعنې تر هجرت درې کاله مخکې دوئ له شعب ابی طالب څخه د باندې راووتل (فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۴۷ باب تقاسیم المشرکین علی النبی صلی الله علیه وسلم)

د ابوبکر صدیق ابن قحافه رضي الله تعالى عنهُ د هجرت هوډ

په همدې شپو او ورځو کې چې هاشم په شعب ابی طالب کې تر بندیز لاندې وو (۱) ابوبکر صدیق ﷺ حبشې ته د هجرت په نیت ووتی [د دې لپاره چې د حبشې له مهاجرینو (۲) سره یوځای سی] کله چې د برکة الغماد په نامه ځای ته ورسیدی نو د فاره قبیلې له مشر ابن الدغنه سره یې ولیدل، ابن الدغنه پوښتنه ځنې وکړه چې اې ابوبکر ﷺ د کوم ځای اراده لرې ابوبکر صدیق ﷺ ورته وویل زه خپل قوم راایستلی یم غواړم چې د الله په ځمکه کې وګرځم او د خپل رب عبادت وکوم ابن الدغنه ورته وویل اې ابوبکر ﷺ ستا په څیر خلک له خپل وطن نه شړل کیږي، ځکه ته د غریبانو لپاره خوراک تیاروې، صله رحمي کوې، د خلکو قرضونه او تاوان اداکوې، خلکو ته میلمستیا ورکوې، د حق ملګري کوې، زه تا په خپله پناه کې اخلم ته بیرته ولاړ سه مکې ته، ابن الدغنه له ابوبکر صدیق ﷺ سره یوځای مکې ته راغلی د مکې د مشرانو په مخ کې یې د بیت الله طواف وکی او د قریشو مشرانو ته یې وویل چې د ابوبکر ﷺ په څیر خلک څوک له خپله هیواده نه شړي آیا تاسو داسې څوک شړئ چې د غریبانو مرسته کوي. خپلوي پالي، د خلکو قرضونه اداکوي، د میلمه پالنه کوي، او د حق ملګري کوي، ما ابوبکر ﷺ ته پناه ورکړې، قریشو د ابن الدغنه پناه ومنله خو دا شرط یې پر کیښودی چې ابوبکر ﷺ دې په خپل کور کې د الله ﷻ عبادت کوي، لمونځ دې کوي د قرآن تلاوت دې کوي مګر په ښکاره دې لمونځ نه کوي، په لوړ آواز دې قرآن نه تلاوت کوي، ځکه په دې سره مور ته تکلیف رسیږي، او له دې پرته له موږ سره دا اندیښنه هم سته چې زموږ ښځې او کوچنیان به اسلام ته واړوي

---

(۱) فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۸۰، وکذافی البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۹۵)

(۲) د دوو قوسو په مینځ کې چې کوم توري دي هغه د روایت جزء نه دي د تشریحې لپاره د فتح الباری څخه رااخیستل سوي فتح الباري جلد ۷ صفحه ۱۸۰، زرقاني جلد ۱ صفحه ۲۸۸)

سیف لودین کتابتون

ابن الدغنه ابوبکر رضی الله عنه ته ددوئ شرطونه بیان کړل اوبیرته ولاړی له دې وروسته به ابوبکرصدیق رضی الله عنه یوائې په خپل کورکې دالله جل جلاله عبادت کوی ، خویوڅه موده وروسته ابوبکرصدیق رضی الله عنه دخپل کورپه غولی کې یومسجدجوړکی اوپه هغه کې به یې لمونځ کوی اودقرآن تلاوت به یې کوی دقریشو کوچنیان اوښځې به پرراټول وو اوپه تعجب به یې ابوبکر رضی الله عنه ته کتل چاچې به ورته کتل دهغه دکتلو مقصد به ابوبکر رضی الله عنه و (۱) ابوبکر رضی الله عنه به دالله جل جلاله له ویری ډیرژړل ،خاص بیاد قرآن دتلاوت په وخت کې دخپلو سترګو مالک نه وو چې هرڅومره کوشش به یې وکی خوخپلی سترګی یې له ژړانه سوی بندولای په دې وجه به دده اوریدونکی دخپلوزړومالکان نه وو ډیرکوشش به یې وکی مګر دابوبکر رضی الله عنه دتلاوت پروخت به یې زړونه نه سو بندولای ، دقریشو مشرانو چې کله داحالت ولیدی وویریدل چې موږخو ابوبکر رضی الله عنه ته پناه ورکړی وه په دې شرط چې دئ به په خپل کورکې په پټه دالله جل جلاله عبادت کوی په ښکاره به دالله جل جلاله عبادت نه کوی ، اوپه ښکاره به لمونځ اوقرآن نه وایې ، دوئ سمدستی ابن الدغنه راوغوښتی ورته وې ویل چې ابوبکر رضی الله عنه خو دشرطو خلاف ورزی کوی په ښکاره لمونځ کوی اوقرآن لولی اوله موږسره دخپلو کوچنیانو اوښځودبیلاری کیدو اندیښنه ده ته ابوبکر رضی الله عنه ته ووایه چې پرخپلو شرطو ودریږی یادې تاته خپل آمان اوپناه وسپاری موږستاپناه ماتول نه غواړو ،ابن الدغنه چې کله ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته وویل نوابوبکر رضی الله عنه ورته وویل زه ستاامان اوپناه درته سپارم اویوائې دالله جل جلاله په امان اوپناه باندی راضی یم .

(ابوبکرصدیق رضی الله عنه داسی وستایل سولکه خدیجة الکبری رضی الله عنها چې نبی کریم ﷺ ستایلی وو)

ابن الدغنه چې دابوبکرصدیق رضی الله عنه کوم صفات بیان کړی دی هغه هوبهوهغه صفات دی چې خدیجة الکبری رضی الله عنها دنبی کریم ﷺ لپاره بیان کړی وو (لکه چې دنبی کریم ﷺ دنبوت په بیان کې تیرسو) اوپه دې سره دابوبکرصدیق رضی الله عنه غوره والی اوکمال اودرښتینوالی مقام ته نژدیوالی اوپیوسته والی معلومیږی

دعارفینو محققینو په نظردصدقیت مقام اودنبوت مقام ترمینځ بل مقام نسته دصدیقیت آخری مقام دنبوت لومړنی اوابتدائی مقام سره یوځای کیږی .

عام الحزن یادغم کال :د ابوطالب اوخدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها دوفات کال ؛

له شعب ابی طالب څخه تروتلو څوورځی وروسته دروژی یادکوچنی اخترپه میاشت کې په کال ۱۰ نبوی کې ابوطالب وفات سو ،اوبیادرې یاپنځه ورځی وروسته خدیجة رضی الله عنها وفات سوه (۲)

---

(۱) دبخاری شریف الفاظ دادی (یعجبون منه وینظرون الیه) په عربی کلام کې الی دپای ته رسیدوپه معنی راځی موږپه دې عبارت کی دالی ومعنی اومدلول ته اشاره کړې ده بخاری شریف جلد۱ صفحه ۲۴۷)

(۲) زرقانی جلد۱ صفحه (۲۹۱)

په مسند احمد ، بخاری ، مسلم ، اونسائی کښې راغلی دی ، چی کله ابو طالب وفات کیدی نورسول الله ﷺ دهغه وځنګ ته کینستی ، ابوجهل اوعبدالله بن ابی امیه هم هلته ناست وو ، نبی کریم ﷺ وابوطالب ته وویل ، اې آکا یوځل خولااله الاالله ووایه ددې دپاره چی دالله ﷻ په دربارکښې زه ستاشفاعت وکړم اوزمالپاره یو دلیل سی ،
ابوجهل اوعبدالله بن ابی امیه ورته وویل اې ابوطالب آیاته دعبدالمطلب دین پرېږدی ،
ابوطالب دلااله الاالله دکلمه له ویلوانکاروکی ، اوآخری خبره چی دده له ژبې ځخه واوریدل سوه هغه داوه چی علی ملة عبدالمطلب یعنی دعبدالمطلب پردین یم ، داخبره یې وکړه اومړسو ، رسول الله ﷺ وفرمایل چی زه به ترهغه وخت دابوطالب لپاره بخښنه غواړم ترڅوچی الله ﷻ نه یم منع کړی په دې اړه داایت نازل سو : مَاكَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَىٰ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ (۱۱۳) آیت سورة التوبه)
ونبی ﷺ اومسلمانانو ته داروانه دی چی دکافرانو لپاره دبخښنی دعاوغواړی که څه هم ددوئ خپلوان وی کله چی داورته معلومه سی چی دوئ دوزخیان دی یعنی پرکفرمړه دی اوداآیت هم نازل سو إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ (۵۶) سورة القصص) ته چی چاته غواړې هدایت نه سی کولای مګر الله ﷻ چی وغواړی هغه چاته هدایت کوی)
عباس ؓ فرمایې ماپوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ ته به دخپل آکا څه مرسته وکولای سی هغه خوستاساتونکی اومرستندوئ و؟نبی کریم ﷺ وفرمایل : هغه به تربجلکوپوری په اورکښې وی که زماشفاعت نه وای نوهغه به دجهنم په تل کی وای (بخاری شریف باب قصة ابی طالب (۱)

(۱) علامه سهیلی په روض الانف کښې اوحافظ ابن سیدالناس په عیون الاثر جلد۱ صفحه ۱۳۳کښې اوحافظ عسقلانی په فتح الباری جلد۲ صفحه ۱۴۸کښې فرمایلی دی چی دعباس ؓ داپوښتنه پردې دلالت کوی چی هغه روایت چی دابوطالب دایمان په باره کښې عباس ؓ ته منسوب دی هغه صحی نه دی ، هغه روایت دادی : چی دمرګ په وخت کښې دابوطالب شونډی ښوریدی عباس ؓ غوږورته ونیوی اورسول الله ﷺ ته یې وویل تاچی دکومی کلمی دپاره خبره کړی وه ابوطالب هم هغه کلمه وایې هغه وویل مانه واوریده آه) ځکه صحیح نه دی که حضرت عباس ؓ له ابوطالب کلمه اوریدلی وای نوبیاددې پوښتنی څه ضرورت دی ، اوکه بالفرض داروایت صحیح هم وی نودآیات قرآنیه اوبخاری اومسلم اودنوروصحاح کتابومشهور اومعروف احادیث اومستند روایاتو په مقابله کی هیڅ دلیل نه سی کیدای سره له دې چی داروایت ضعیف اومنقطع هم دی ، علامه شبلی دابن اسحاق په دې ضعیف اومنقطع روایت دبخاری اومسلم اودصحاح سته ټولوروایات صحیحه ردوی اودابوطالب ایمان یې دابن اسحق په یوضعیف اومنقطع روایت ثابت کړی دی ، اودعلامه هغه خبره هیره دی چی نوموړی وایې دکسری دمانۍ دزلزلی روایت په دې وجه دمنلووړنه دی چی په صحیح بخاری اوصحیح مسلم بلکښې په صحاح سته کښې شتون نه لری، که په صحاح سته کښې دکسری دمانۍ دزلزلی روایت شتون نه لری خو دهغه روایت خلاف هم یوتکی هم شتون نه لری ، اودابن اسحق ددې روایت په خلاف په صحاح سته کښې صحیح اوصریح روایتونه موجوددی ، اوبل داخبره دعلامه شبلی چی محمدبن اسحق په دې وجه مجروح دی چی ده به له یهودو اونصاری وو څخه روایتونه کول اوهغه به یې ثقه ګڼل ، نواوس بیاڅه پیښه سوه چی دداسی سړی په روایت سره دصحیحینو اوصحاح سته روایت ردوی علامه دې ته ځنګه تیارسو چی هغه روایتونه چی دابوطالب ایمان راوړل ثابتوی ټول تقریباله هغه راویانو څخه نقل سوی دی چی معاذالله دوئ دابوبکر ؓ اوعمر ؓ دکفرراویان دی ، حافظ عسقلانی په اصابه جلد۱ صفحه ۱۱۵کښې دابوطالب په بیان کښې پردې باندی تفصیلی بیان کړی دی علماء کرام دی داصابه پرته البدایه والنهایه جلد۳ صفحه ۱۴۲تر۱۴۶پوری مطالعه کی اودزرقانی شرح مواهب جلد۱ صفحه ۲۹۱ ته هم رجوع وکوی)

پاملرنه !علامه سهیلی وایې چې ابوطالب له سره ترپښوپوری ګرده درسول الله صلی الله علیه وسلم په مرسته اوساتنه کې بوخت وویوائی پښي یې ددین اسلام پرځای د عبدالمطلب پردین وی په دې وجه عذاب په پښو مسلط سو

(رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ (۲۵۰) سورة البقرة)

له علی ﷺ وکرم الله وجهه څخه روایت دی چې کله ابوطالب مړسو نومارسول الله ﷺ ته وویل چې یارسول الله ﷺ ستاګمراه آکامړسو ، نبی کریم ﷺ وفرمایل ولاړسه ښخ یې که ماعرض وکې چې هغه خومشرک مړدی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل هو ښخ یې کړه ، داحدیث په ابوداؤد ، نسائی کې راغلی دی (۱) حافظ عسقلانی په اصابه کې ویلی دی چې ابن خزیمه ودې حدیث ته صحیح ویلی دی ، په یوبل روایت کې راغلی دی چې کله علی ﷺ دابوطالب له ښخولوفارغه سو نونبی کریم ﷺ ته راغلی ، نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل ، غسل و کړه ، په همدې وجه فقهاءوایې چې دکافراومشرک له تجهیز اوتکفین څخه وروسته غسل کول مستحب دی ، لکه چې په نوروااحادیثوکې هم راغلی دی ، حافظ توربشتی رحمه الله علیه لیکی ، چې ددې حدیث څخه مجتهدینواامامانو خصوصاً امام ابوحنیفه رحمه الله علیه اوامام شافعی رحمه الله علیه دکافرښخولوپه جوازاستدلال کړی دی اومسلمان دکافر وارث نه سی کیدای ځکه دابوطالب(۲) څلور زامن وو ۱) طالب ۲) عقیل ۳) جعفر ﷺ ۴)علی ﷺ دابوطالب میراث یوائي طالب اوعقیل ته ورکړل سو هغه چې دخپل پلار اونیکه پردین پاته وو اوعلی ﷺ اوجعفر ﷺ ته نه ورسیدی ځکه دوئ دواړه مسلمانان وو (کذافی المعتمد فی المتعتقد)

پاملرنه !داهل السنت والجماعت ټولو داعقیده ده (۳)چې ابوطالب پرکفر مړدی لکه چې له آیاتو او احادیثوڅخه ښکاره ثابته سوه ، حافظ توربشتی رحمه الله علیه لیکلی دی چې دابوطالب کفر دتواترحدته رسیدلی دی اودسلف علماء اوددین داامامانو هم همدغه رایه اومسلک اومذهب دی ،

روافض خبیثان وایې چې ابوطالب پر ایمان مړ دی،اوابوبکرصدیق ﷺ په کفرمړدی (العیاذبالله)درنولوستونکوداخبره بایدوپیژنی چې دایمان لپاره یوائی مینه اوقربانی نه دی کافی بلکې دنبوت اورسالت شاهدی ورکول لازم دی پرته له شاهدی ورکولو هیچاته مؤمن نه سی ویل کیدای (فافهم واستقم)

---

(۱) فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۴۸) ——— (۲) عیون الاثرجلد ۱ /ص /۱۳۲)

(۳) اهل السنت والجماعت ټول پردې عقیده لری چې ابوطالب پرکفرمړدی نو دعلامه شبلی دسیرة النبی جلد ۱ صفحه ۱۸۱ په تقطیع دکلام کې دالیکل چې دابوطالب داسلام په اړه اختلاف دی یوائی تلبیس اوچل دی په اهل سنتوکی دده دکفر په اړه هیڅ اختلاف نسته البته روافض دابوطالب دایمان قائل دی اوښکاره خبره ده چې دروافضو اختلاف داعتباروړنه دی هغه دله چې ابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ بلکې ټول صحابه کافران اومنافقین بولی دهغوئ اختلاف څنګه داعتباراوکتنی وړوګرزی

سیف لودین کتابتون

وطائف ته داسلام ددعوت لپاره دنبي کريم ﷺ له ستونزوډک سفر

دابوطالب له مرګه وروسته دنبی کریم ﷺ بل مرستندوی اوساتونکي نه سوپاته اود خدیجة الکبری رضي الله عنها له مړینی وروسته څوک تسلی ورکونکي اوغمخور نه سوپاته ، په همدې وجه نبی کریم ﷺ دقریشود ظلم دلاسه مجبورسو چی یوخواته ولاړسی،دنوبت په لسم کال دکوچنی اختر دمیاشتی په پای کې وطائف ته دتلونیت وکړی چی کیدای سی دطائف خلک دالله ﷻ دین ومنی اودهغه ددین ساتونکي اومرسته کونکي پیداسی زید بن حارثه رضي الله عنه ورسره ملګری سو وطائف ته روان سو کله چی طائف ته ورسیدل نودطائف له درې مشرانو (۱) عبدیالیل (۲) مسعود (۳) حبیب ،سره یې ولیدل ودوئ ته یې داسلام بلنه ورکړه خودوئ ددې پرځای چی اسلام ومنی اوکلمه ووایې په ډیره سختی سره یې نبی کریم ﷺ ته ځواب ورکی یوه ورته وویل آیا الله ﷻ دکعبی دعزت د ختمو لو دپاره ته راولیږلی ، بل ورته وویل آیا الله ﷻ دپیغمبری لپاره بل څوک پیدانه کي ته یې راولیږلی ، دریم وویل قسم په الله ﷻ که زه له تاسره هیڅ خبری وکړم ځکه که ته رښتیانبی وی نوستاخبری ردول ډیر خطرناک دی اوکه ته دالله ﷻ رسول نه یې نوبیاته ددې وړنه یې چی زه له تاسره خبری وکړم (مګر دې ناپوه دافکر نه وکی چی دالله ﷻ په پیغمبر پوری مسخری اوټوقی ترنه منلو هم سخت جرم دی)

له دې خبروروسته یې دطائف دبازار وکوچنیانوته امر وکی چی داسړی په کاڼوویلی اووړپوری وخاندی دې ظالمانوپه دومره کاڼو وویشتی چی دنبی کریم ﷺ سرمبارک زخمی سو کله چی به نبی کریم ﷺ دزخمونودتکلیف له امله کښینستی نودوئ بدبختانو به هغه مبارک ترلاسوونیوی اوولاړبه یې کی دکاڼودویشتلولپاره به یې ودروی اوخندل به یې ،زیدبن حارثه رضي الله عنه چی په دې سفرکی دنبی کریم ﷺ ملګری وو هغه به داکوشش کوی چی کوم کاڼی راځی هغه پرده وموښلی ددې پرځای چی پرنبی کریم ﷺ باندی ولګیږی زید رضي الله عنه به دهغه کاڼو مخته دریدی په همدې وخت کې دزیدبن حارثه رضي الله عنه ټول سر زخمی سو اودنبی کریم ﷺ پښي مبارکی دومره زخمی سوی چی په څپلیو کې وینی روانی وی ،

له طائف چی دوئ راووتل هلته دعتبه بن ربیعه اوشیبه بن ربیعه دانګوروباغ وو نبی کریم ﷺ اوزیدبن حارثه رضي الله عنه دیوی ونی ترسیوری لاندی کیناستل اونبی کریم ﷺ دا دعا وکړه چی دمستضعفینودعاورته وایې :

اللهم الیک اشکو ضعف قوتی وقلة حیلتی وَهَوانی علی الناس یاارحم الراحمین انت رب المستضعفین الی من تکلنی الی عدو بعید یتجهمنی الی صدیق قریب ملکته امری ان لم تکن غضباناً علی فلا ابالی غیران عافیتک اوسع لی اعوذبنور وجهک الذی اشرقت له الظلمات وصلح علیه امر الدنیا والاخرة من ان تنزل لی غضبک اویحلّ بی سخطک ولک العتبی حتی ترضی ولاحول ولاقوة الابک (اخرجه ابن اسحاق والطبرانی)

سیف لودین کتابتون

ژباړه :یاالله ﷻ زه تاته دخپلی کمزوری، اودتدبیردکمزوری اودخلکودسپکوالی شکایت کوم اې ارحم الراحمین ته دکمزوروپالونکي اومرستندوئ یې ته ماچاته سپاری یوداسی دښمن ته چی ډیرغصه ناک وی اوکه یې وداسی دوست ته سپاری چی تاهغه زمادچاروواکمن جوړکړی وی ، که ته له ماناراضه نه یې نوبیازماهیڅ پروانسته مګر ستا ساتنه اوجوړوالی ډیر پراخ دی زه پناه غواړم ستادمخ دړناپه وسیله چی په هغې سره توری تیاری رڼاکیږی اوپه دې رڼاسره ددنیااوآخرت چاری چلیږی زه له دې پناه غواړم چی ستاغضب اوناراضی پرماباندی نازله سی اواصل مقصودستااورول اوراضی کول دی له بنده سره د شره خلاصون اودخیر کولو هیڅ واک نسته مګر هغه څه چی ستاله لوری ورکړل سی ،

ددعاقبلیدودپاره خونبوت اورسالت بس و ځکه هرنبی مستجاب الدعوات دی مګرپه دغه وخت کې دنبوت اورسالت څخه پرته نورلاملونه هم ددعاقبلیدوو هغه لکه مسافری ، یوائی والی ، مظلومیت ، مجبوری ، لکه چی دالله ﷻ ارشاددی :

(اَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ(۶۲آیت سورة النمل) ،اوبل داچی دمظلوم اومسافرپه اړه خوبیل حدیث راغلی دی چی دمظلوم اومسافردعاء قبلیږی .

بترس از آه مظلومان که هنگام دعا کردن............. اجابت ازدرحق بهر استقبال می آید

په داسی حال کې چی نبی کریم ﷺ مظلوم هم وو مسافر هم وو اومجبورهم له خپل وطن شړل سوی ووداسی چاته ته به دقبول دروازی ولی نه خلاصیږی (۱)همدغه عتبه اوشیبه چی مخکې یې زړونه تړډبره کلک وو اوس دنبی کریم ﷺ ودې بی کسی اومظلومیت ته یې په باغ کې وکتل سمدستی یې زړونه نرم سو اودخپلوی وینه یې په رګوکې پرجوش راغله خپل مریئ عداس یې راوغوښتی ورته وې ویل چی په یوکاسه کې انګورواچوه اوهغه سړی ته یې وروړه اوهغه ته ووایه چی له دې څخه څه خامخاوخوره ، عداس هم همداسی وکړل دنبی کریم ﷺ مخ ته یې دانګوروکاسه کیښوده ، نبی کریم ﷺ په بسم الله سره شروع په و کړه ، عداس ورته وویل ته دکوم ښاراوسیدونکی یې اوستادین اومذهب څه دی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :ته دکوم ښاراوسیدونکي یې اوستادین کوم دین دی ؟عداس وویل زه دنینوی (۱) ښاراوسیدونکي یم اونصرانی یم ، نبی کریم ﷺ وفرمایل دهغه نینوی ښارچیری چی دالله ﷻ نیک بنده یونس بن متی اوسیدی ، عداس ورته وویل ته یونس بن متی څه پیژنی ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : هغه زما وروړنبی ؤ اوزه هم نبی یم .عداس دنبی کریم ﷺ تندی اولاسونه اوپښې مچ کړی

---

(۱) ودې ته اشاره دی چی په راتلونکی کې چی څه داسلام پرمختګ وو هغه له همدغه ځایه شروع

اوده وویل اشهد انک عبدالله ورسوله (۱) کله چی عداس دنبی کریم ﷺ له خوا بیرته ولاړی نوعتبه اوشیبه ورته وویل تاددې سړی لاس اوپښې ولی مچ کړل ، داسړی تاله خپل دین څخه وانه ړوی ستادین دده تردین ډیر غوره دی (۲)

دحکیم بن حزام ؓ څخه روایت سوی دی : چی کله عتبه اوشیبه دمکی دقریشوسره دبدر دجنګ لپاره تیارسو نوعداس عتبه اوشیبه ته په پښو کې ورولویدی ورته وې ویل قسم په الله ﷻ دادالله ﷻ رسول ﷺ دی ، اوقریش دخپل مرګ ځای ته روان دی ، عداس ناست ووژړل یې دده وځنګ ته عاص بن شیبه تیرسو ،له عداس څخه یې پوښتنه وکړه چی ولی ژاړی ؟ عداس ورته وایې دخپلو دواړومشرانو په وجه ژاړم چی همدا اوس دالله ﷻ د رسول ﷺ مقابلی ته روان دی .عاص بن شیبه ورته وویل چی رښتیا محمد ﷺ دالله ﷻ رسول ﷺ دی ؟ عداس وویل هوقسم په الله ﷻ چی دئ رښتینی رسول دی اوټولی دنیاته دالله ﷻ له لوری رالیږل سوی دی (۳)

عائشه صدیقه ؓ فرمایې : مایوه ورځ له نبی کریم ﷺ څخه وپوښتل چی یا رسول الله ﷺ آیاپر تا داُحُد له ورځی سخته ورځ راغلی ده ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل :ستادقوم څخه چی ماته کوم تکلیفونه رسیدلی دی هغه خوډیر دی مګر ترټولوډیره سخته ورځ هغه وه په کومه ورځ چی زه دعبدیالیل زامنوته ورغلم هغوئ زماخبره ونه منله زه له هغه ځایه ډیر غمجن اوخفه راووتم وقرن الثعالب ته ورسیدم هلته ویده سوی وم کله چی له خوب څخه راویښ سوم ناڅاپه می سرراپورته کی ګورم چی وریځی پرماباندی سایه کړی اوپه وریځ کې جبرئیل ؑ وو جبرئیل ؑ ماته آواز وکی چی ستاقوم چی تاته کوم ځواب درکی هغه الله ﷻ واوریدی اوس الله ﷻ تاته دغروفرشته رالیږلی ده ددې دپاره چی ته ودېته هرڅه حکم کوی داهغه عملی کوی په دې وخت کې دغروملکی ماته اواز وکی اوماته یې سلام وکی اووې ویل :اې محمد ﷺ الله ﷻ زه تاته رالیږلی یم زه دغرومالکه یم ټول غرونه زماپه واک کی دی ته چی څه غواړی ماته حکم وکوه که ته حکم وکوی نودادوه غرونه [دکوموپه مینځ کې چی دمکی اوطائف اوسیدونکي دی]یوځای کړم او په مینځ کې به یې ټول خلک راګیرسی ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل نه زه دالله ﷻ څخه امیدلرم چی الله ﷻ به ددوئ په نسل کې داسی خلک پیداکړی ، چی هغوئ دیوه الله ﷻ عبادت کوی اوله هغه سره څوک شریک نه نیسی ، داټول روایت په صحیح بخاری باب ذکرالملائکة کې راغلی دی یواځی دقوسوپه مینځ کې تکی دمعجم طبرانی له روایت رااخیستل سوی دی (فتح الباری جلد ۶ صفحه ۲۲۵)

---

(۱) داټوله قصه موږ دعیون الاثرڅخه راخیستی ده یواځی اشهدانک عبدالله ورسوله دعداس داشهادت حافظ عسقلانی په حواله دسیرة سلیمان تیمی په اصابه کې جلد ۲ صفحه ۲۶۶کې په ترجمه عداس کې دشهادت کلمه یاده سوی)

(۲) عیون الاثر جلد ۱ صفحه ۱۳۴ ، البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۱۳۵)

(۳)

سیف لودین کتابتون

ضروري پاملرنه ! له دومره ستونزو او تکلیفو سره رحمت دوعالم رأفت مجسم نبی اکرم صلی الله علیه وسلم شرف وکرم ، ددوئ دبربادی دعاونه کړه ځکه نبی کریم ﷺ وفرمایل که څه هم دوئ کافران دی او ایمان یې نه دی راوړی مگر کیدای سی ددوئ په نسل کې به دالله ﷻ منونکی او مخلص او ځان قربانونکي بندگان پیدا سی ، داسی نه وو لکه نوح علی سیدنا وعلیه الصلوة والسلام ،زمابدن او روح دې ترده قربان وی کله چی دنوح عليه السلام هیلی پای ته ورسیدی او په وحی ورته معلومه سوه چی کومو خلکو چی ایمان راوړی دی هغه مسلمانان دی او پاته نور خلک ایمان نه راوړی او نه ددوئ په نسل کې مسلمان پیدا کیږی نو ځکه سیدنا نوح عليه السلام ددوئ دهلاکت او بربادي دعا وکړه لکه چی الله ﷻ فرمايي :وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ آمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ (۳٦) سورة الهود)

ژباړه : ونوح عليه السلام ته وحی وسوه چی ستاله قوم څخه هیڅوک ایمان نه راوړی مگر کومو چی مخکې ایمان راوړی دی نو ته ددوئ دعملونو په وجه مه غمجن کیږه)

له دې وحی وروسته نوح عليه السلام دادعا وکوله :

رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا [نوح: ۲٦، ۲۷]

ژباړه : اې زما پالونکي ﷻ ته دځمکی پرمخ یو گرزیدونکی کافر هم مه پریږدی که ته دوئ پریږدی نو ستا بندگان به گمراه کی او له دې کافرانو څخه پرته له کافرانو او فاجرانو بل څوک نه زیږی

نوح عليه السلام ته دوحی له لاری معلومه سوه چی دوئ ایمان نه راوړی او نه ددوئ له نسل څخه څوک ایمان راوړی راتلونکي چی څومره نسلونه پیدا کیږی هغه به کافر او بدکاره وی او دالله ﷻ نافرمان به پیدا کیږی ځکه یې دادعا وکړه چی یاالله خپل منکرین او مکذبین پر ځمکه باند مه پاته کوی دوئ که ژوندی پریږدی نو هم ستا نافرمانی کوی او ددوئ نسل او اولاد به هم ستا نافرمان وی کله چی ددوئ له ایمان راوړلو ناامیده سو نو اوس دشفقت او مهربانی هیڅ ځای پاته نه سو ،

او دانړۍ به تر هغه وخته آباده وی ترڅو چی دالله ﷻ دنامه یادیدونکي پاته وی کله چی په ځمکه کې دالله ﷻ دنامه یادیدونکي پاته نه سی هغه وخت به دا ټوله دنیا زره زره کیږی

له طائف دراستنیدو په وخت کې دپیریانو راتگ !

کله چی نبی کریم ﷺ له طائف څخه راووتی نو څوورځی په نخله نامی ځای کې پاته سو یوشپه یې لمونځ کوی چی دنصیبین اووه پیریان دده وڅنگ ته تیر سو او پرلارې یې دنبی کریم ﷺ څخه قرآن واوریدی او ولاړل نبی کریم ﷺ ددوئ په راتگ هیڅ خبر نه سو ترڅو چی الله ﷻ دا آیتونه نازل کړه :

سیف لودین کتابتون

وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنْصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَى قَوْمِهِمْ مُنْذِرِينَ (۲۹) قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَى طَرِيقٍ مُسْتَقِيمٍ (۳۰) يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ (۳۱) وَمَنْ لَا يُجِبْ دَاعِيَ اللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُ مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءُ أُولَئِكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (۳۲) سورة الاحقاف

ژباړه : اوهغه وخت یادکه کله چی موږ دپیریانویوه ټولی ستاخواته راوسته ددې لپاره چی ستاڅخه قرآن واوری کله چی دوئ حاضرسو نوپه خپل مینځ کی یې وویل چوپ سی یعنی داخبری واوری بیاچی کله قرآن ولوستل سو یعنی دنبی کریم ﷺ لمونځ ختم سو نوداخلک خپل قوم ته بیرته ولاړل ددې دپاره چی هغوئ خبرکی ولاړل اودوئ ورته وویل چی موږ عجیبه کتاب اوریدلی دی چی ترموسی علیه السلام وروسته نازل سوی دی او د مخکې کتابو تصدیق کوی اودحق نیغی اوسیده لاری ته لاربنوونه کوی اې زموږ ورونو دالله جل جلاله دبلونکي بلنه ومنی اوپه هغه باندی ایمان راوړی الله جل جلاله به ستاسوګناهونه وبخښی اوڅوک چی دالله جل جلاله دبلونکي بلنه ونه منی نوهغه دځمکی دسرڅخه نه سی تلای اونه به دده څوک مرستندوئ وی داسی خلک په ښکاره ګمراهی کی دی .

نبی کریم ﷺ چی کله مکی ته تږدی ورسیدی نوزیدبن حارثه رضی الله عنه ورته وویل چی مکی ته به څنګه داخلیږو ، دمکی خلکوخوته راایستلی یې ؟

رسول کریم ﷺ وفرمایل :(۱)اې زید رضی الله عنه الله تعالی به ددې غم څخه دخلاصون لاره خامخا راته پیداکی اوالله جل جلاله دخپل دین مرسته کوی اوربښتیابه هم هغه خپل نبی پرټولوبرلاسی کوی. وروسته رسول الله ﷺ غارحراء ته ولاړی واخنس بن شریق ته یې پیغام ولیږی ،چی آیازه ستاپه پناه کې مکی ته داخلیدای سم ؟ اخنس وویل زه دقریشودوست یم په دې وجه زه پناه نه سم درکولای ،

داخنس له ځواب وروسته رسول کریم ﷺ همدغه پیغام وسهیل بن عمرو ته ولیږی ، سهیل بن عمرو وویل ، بنوعامر دبنو کعب په مقابله کی پناه نه سی ورکولای ،

ترسهیل وروسته رسول کریم ﷺ همدغه پیغام مطعم بن عدی ته ولیږی ، چی زه ستاپه پناه کی مکی ته داخلیدای سم ؟ مطعم بن عدی درسول الله ﷺ پیغام ومنی خپل زامن اودقوم ټول خلک یې راوغوښتل اوداامریې ورته وکی چی توری اونیزی راواخلی اودحرم پر دروازو ودریږی ماومحمدمصطفی صلی الله علیه واله وسلم ته پناه ورکړی ده، اوپه خپله هم پراوښ سپورسو اودحرم دروازی ته راغی ودریدی داسی آوازیې وکړ اې قریشو مامحمد ﷺ ته پناه ورکړی ده هیڅوک دې پرهغه لاس نه پورته کوی ،

---

(۱) اصل الفاظ دادی :یازید ان الله جاعل لماتری فرجا ومخرجاً وان الله ناصردینه ومظهرنبیه (طبقات ابن سعد جلد ۱ صفحه ۱۴۲)

سیف لودین کتابتون

نبی کریم ﷺ حرم ته راغلی او حجراسود یې ښکل کړ اوله طواف کولو وروسته یې دوه رکعته لمونځ وکړ وروسته خپل کورته روان سو مطعم او دهغه زامن پرنبی کریم ﷺ د کړی په څیر راګرزیدلی وشاوخوا ورسره روان وو دنبی کریم ﷺ ترمبارک استوګنځی ورسیدل دمطعم بن عدی دذې نیکی په بناء باندی دبدر په ورځ دبدر دبندیانو په اړه نبی کریم ﷺ وفرمایل (لوکان المطعم بن عدی حیاً ثم کلمنی فی هؤلاء النتنی لترکتهم له) که نن ورځ مطعم بن عدی ژوندی وای اوله ماسره یې ددې بینوپه هکله څه خبره کړی وای نو مادهغه په خبره داټول بین پریښودل .

دطفیل بن عمرو دوسي رضي الله عنه اسلام راوړل :

طفیل بن عمرو دوسی مکی ته راغلی رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعوت بوخت وو طفیل له ډیری درنی کورنۍ څخه او ډیرلوی شاعر او ډیر زیرک اوپوه اومیلمه پال سړی وو دقریشو سره یې ددوستی اړیکی درلودی کله چی نوموړی مکی ته راغی نو دقریشو څو کسان ده ته راغلل اوورته وې ویل چی په موږ کی یو سړی پیدا سوی دی او هغه په ټول قوم کی بی اتفاقی اچولی ده دده خبری دجادو په څیر دی چی پلار اوزوی ورور او ورور ښځه اومیړه سره بیله وی ته له ده څخه ځان وساته موږ اندیښنه لرو چی ته او ستاقوم هسی نه په دې غم اخته سی څومره چی دې توان وی دده هیڅ خبره مه اوره طفیل وایې زه قریشو دومره ویرولم چی په غوږو کی می پنبه کیښودل چی هسی نه چی ناڅاپه دده خبری واوری اوخلکو ماته ذوالقطنتین وویل خو ناڅاپه یوه ورځ مسجد حرام ته ولاړم ګورم چی رسول الله ﷺ بیت الله شریف ته مخامخ لمونځ کوی ، طفیل ؓ وایې زه هم دده وڅنګ ته ودریدم ماکه څه هم داغوښتل چی دده خبره وانه ورم مګر الله ﷻ داغوښتی وو چی خپل کلام په ما واوری ، کله چی مادا کلام بی اختیاره واوریدی ډیر ښه او غوره راته معلوم سو دغه وخت زما زړه راته وویل چی اې طفیل ته خو عاقل هوښیار او ښه شاعر هم یې اوپر تا باندی دخبری ښه والي اوبدوالی پټ نه دی ته دده خبری واوره که خوندوری اومزداره منی به یې اوکه بدی وی نو پرېږدې به یې کله چی رسول الله ﷺ له حرم ولاړی زه ورپسی روان سوم کله چی هغه مبارک کورته ورسیدی نوزه هم ورغلم اوورته ومی ویل چی ستاقوم خوزه ستاله خبرو اورید وڅخه دومره ویرولی یم چی په غوږو کی می پنبه کیښودل ددې لپاره چی ستاخبری وانه ورم مګر دالله ﷻ اراده داسی نه وه چی زه ستا خبری نه واورم ستاخبری چی ما واوریدی ډیری ښې راته معلومی سوی ته وماته خپل دین بیان کړه ؟ نبی کریم ﷺ اسلام راته وړاندی کی اوماته یې دقرآن تلاوت وکی په یوروایت کی دی چی سورة اخلاص اومعوذتین یې تلاوت کړل . قسم په الله ﷻ که ماتر قرآن کریم بل غوره کلام هیڅ کله اوریدلی وی او داسلام څخه می بل زیات میانه روه

دين هيڅ دين مونډلي وى سمدستى مى اسلام قبول كى اونبى كريم ﷺ ته مى وويل يانبى الله ﷺ زه دخپل قوم مشريم، دانيت مى كړى چى ولاړسم اوخپل قوم ته داسلام بلنه وركړم ته له الله ﷻ څخه دعاوغواړه چى وماته څه نښه نښانه راكى چى هغه زماكومك اودليل سى نبى كريم ﷺ دعاوكوله (١) (اللهم اجعل له اية) اې الله ﷻ ورته يوه نښانه وركړى. كله چى زه خپل كلى ته نژدى ورسيدم نوزماپه تندى كې دڅراغ په شان رڼا پيدا سوه ماد الله ﷻ څخه دادعاوغوښته چى ياالله دارڼا دمخ پرځاى وبل ځاى ته نقل كى هسى نه زماقوم ووايې چى طفيل مثله سونى دى (٢) اوداخيال ونه كوى چى دپلرودين دپريښودلوپه وجه سره دده شكل بدل سوى دى هغه رڼاهم سمدستى زمالكړى ته نقل سوه اوزمالكړه دڅراغ په څيرروښانه سوه كله چى سهارسو نواول مى خپل پلار ته داسلام بلنه وركړه اوبيامى خپلى ښځى ته دواړواسلام ومنى اوغسل يې وكى اوپاكى جامى يې واغوستلى وخپلى ميرمن ته مى وويل چى كه ته له دې ويرېږى چى دبتانوپه پريښودوبه مى واولادته څه تاوان ورسيږى نوزه ددې ضامن يم وروسته مى ددوس قبيلى ته داسلام بلنه وركړه مگر ددوس (٣) قبيلى اسلام نه راوړى زه دويم ځل مكى ته ولاړم دنبى كريم ﷺ په خدمت كې حاضرسوم ورته ومى ويل چى يارسول الله ﷺ دوس قبيلى خوداسلام بلنه ونه منله ته دوئ ته ښيراوكړه نبى كريم ﷺ لاس پورته كړل اودا دعا يې وكوله (اللهم اهد دوسا وائت بهم) اې الله ﷻ دوس قبيلى ته هدايت وكوى اومسلمانان يې دلته راولى .اوماته يې وفرمايل : ځه ولاړسه په نرمى سره خلك اسلام ته رابوله دنبى كريم ﷺ دښوونى برابرماخلك اسلام ته رابلل تركال اوم ٧ هجرى پورى اويا ٧٠ يا ٨٠ كورنى داسلام په نور روښانه سوى داټول مى په كال ٧ هجرى كې له ځان سره ملگرى كړل اومدينى منورى ته ولاړو اودنبى كريم ﷺ په خدمت كې حاضرسو ، دمكى ترفتح وروسته ماله نبى كريم ﷺ څخه وغوښتل،چى دعمرو بن حميمة بُت ذوالكفين دسوځولو اجازه راكړى نبى كريم ﷺ اجازه راكړه اوزه روان سوم اوله رسيدوسره سم مى بت وسوځي كله چى طفيل بن عمردوسى رضي الله عنه بت سوځوى داسى شعرونه يې زمزمه كول

---

(١) داداسلام ځانگړتياده چى دده هرحكم ميانه روه دى په دين اسلام كې نه ډيره سختى سته اونه ډيره نرمى له زيادت اونقصان څخه پاك دين دى په هرحكم كى ميانه روى دى مثلا اسلام له دښمنانو څخه بدله اخيتسل نه واجب كړى دى اونه يې عفوه لازمه كړى بلكې دبدلى اجازه يې وركړى ده اوددښمنادبخښلويې ترغيب وركړى دى اوعفوه يې تقوى اوپرهيزگارى بللى ده اسلام دعامو خلكودپاره اسراف اوبخل دواړه منع كړى دى هرڅوك دى نه ډيرپيځايه خرڅ كوى اونه دې بخل كوى بلكې ميانه روى دى كوى اودكوموخلكوزړونه چى په توكل اوصبرسره داسى ډك دى چى دمال هستى اونيستى ددوئ په نظركې يوشان وى داسى خلكوته اسلام اجازه وركړى چى دوئ خپل ټول مال دالله ﷻ په لاره كې ولگوى

(٢) مثله دهيئت اوشكل بدلولوته وايې)

(٣) حافظ عسقلانى فرمايې چى دغه وخت په دوس قبيله كې يوازى ابوهريرة رضي الله عنه اسلام راوړى وو)

سیف لودین کتابتون

دطفيل بن عمرو دوسي رضي الله عنه شعرونه دبت سوځولو په وخت کې :

يَاذَاالْكَفَيْنِ لَسْتُ مِنْ عِبَادِكَا .....مِيْلَادُنَا اَكْبَرُ مِنْ مِيْلَادِكَا......اِنِّي حَشَوْتُ النَّارَ فِي فُؤَادِكَا

اې لاس لرونکي بته زه ستاله عبادت کونکو څخه نه يم.... زمازوکړه ستا تر پيدا کيدو ډيره مخکې دی........او ماستا په زړه کې اور بل کړی دی .

نيمه قبيله خو مخکې لامسلمانان سوی وو اوپاته نور خلک هم ددې بت له سوځلو وروسته له دشرک اوبت پرستۍ څخه توبه وکښنه اوداسلام په کړۍ کې داخل سو .

په يوروايت کې راغلی دی چې طفيل رضي الله عنه چې کله خپل قوم ته راغلی نوتکه توره شپه وه اوباران اوريدی،لاره نه ښکاره کيدله په دغه وخت کې الله جل جلاله دارڼا پيداکه خلکوورته کتل ډيرحيران سو،اودطفيل رضي الله عنه پرشاوخوا اوګرزيدل اولکړه هغه رنګه روښانه وه کله چې به توره شپه سوه نودا لکړه به دغه شان روښانه کيده په دې وجه طفيل په ذی النور سره مشهور سو (١)

فايده ؛

داولياء الله کرامتونه دانبياء عليهم السلام دمعجزو نمونه وی لکه څنګه چې علماء ربانيين په علم اوحکمت کې دانبياءاورسولانو عليهم السلام وراثان دی دغه شان دمرتبو په برابری په کرامت اودعادت خلاف کارو کې هم دانبياء عليهم السلام وارثان وی ، لکه په حديث کې چې راغلی دی (العلماء ورثة الانبياء) علماء دانبياء عليهم السلام علمي وارثان دی ،،

له دې امله دطفيل رضي الله عنه کرامت دموسی عليه السلام دمعجزی يد بيضاء يوه نمونه وه ،

دغه رنګه په سورة تحريم کې الله جل جلاله دصحابه په حق کې فرمايلي دی :

يَوْمَ لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ نُورُهُمْ يَسْعَى بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ (سورة التحريم آيت ٨)

دقيامت په ورځ به الله جل جلاله نبی کريم ﷺ اوهغه څوک چې پرده يې ايمان راوړی دوئ به نه رسواکوی رڼا به ددوئ مخ ته اوراسته طرف ته منډی وهی .

داهيڅ عجيبه نه دی چې دطفيل رضي الله عنه دارڼا دهغې رڼا يوه نمونه وی کومه چې به دقيامت په ورځ دصحابه کرام رضي الله عنهم په خاص ډول سره لاربنوونه کوی ،د رسول الله ﷺ په وجه طفيل رضي الله عنه ته دارڼا په دنيا کې وښودل سوه ،والله سبحانه وتعالی اعلم وعمله اتم واحکم .

---

(١) الاستيعاب جلد ٢ صفحه ١٣١، الاصابه جلد ٣ صفحه ٢٢٥، الخصائص الکبری جلد ١ صفحه ١٣٦)

(١) طبقات ابن سعد جلد ٤ صفحه ٧٥، سيرة ابن هشام جلد ١ صفحه ١٣٥ ، الخصائص الکبری جلد ١ صفحه ١٣٥ دلائل ابی نعيم جلد ١ صفحه ٧٨ ،، الاصابه جلد ٢ صفحه ٢٢)

سیف لودین کتابتون

اسراء او معراج (نبي كريم ﷺ ۷ اسمانوته وختي !)

دطائف له راستنيد وروسته(١) الله ﷻ نبى كريم ﷺ له مسجد حرام څخه مسجداقصى ته اوله مسجداقصى څخه اوواسمانو ته په همدې صورت اوروح سره دبيدارۍ په حالت کې په يوه شپه وګرزوى ، چې هغه داسراء اومعراج په نامه ياديږي ، اودمعراج تفصيلي بيان به ان شاء الله دمعجزاتوپه بيان کې راسي ، دسيرة دعلماء په دې کې اختلاف دى چې دنبى كريم ﷺ معراج په کوم کال کې سوى دى دعلماء لس قولونه دى :

(١) قول دادى چې ترهجرت شپږمياشتى مخکې معراج سوى دى (٢) ترهجرت اته مياشتى مخکې (٣) ترهجرت يوولس مياشتى مخکې (۴) ترهجرت يو كال مخکې (۵) ترهجرت يو كال اودوې مياشتى مخکې (۶) ترهجرت يو كال اودرې مياشتى مخکې (۷) ترهجرت يو كال اوپنځه مياشتى مخکې (٨) ترهجرت يو كال اوشپږمياشتى مخکې (٩) ترهجرت درې كاله مخکې (١٠) ترهجرت پنځه كال مخکې)

د فتح البارى په باب المعراج کې داټول اقوال په تفصيل سره بيان سوى دى ،

راجح قول دادى چې دخديجة الكبرىؓ تروفات وروسته اودعقبه تربيعت مخکې معراج سوى دى ، اولومړنى اته قولونه هم پردې متفق دى چې دخديجهؓ تروفات وروسته معراج سوى ،لنده داچې ډير په همدې خبره دى او داخبره له نور رواياتوثابت سوى ده چې خديجهؓ دپنځولمنځوترفرض كيدومخکې وفات سوى ده ، اوداهم منلى سوى خبره ده چې خديجهؓ په شعب ابى طالب کې له نبى كريم ﷺ سره ملګرى وه له شعب ابى طالب څخه دراوتلو وروسته هغه وفات سوه ، اودامخکى تيرسو چې نبى كريم ﷺ اودهغه ملګرى له شعب ابى طالب څخه په كال ١٠ نبوى کې راوتلى وو ، له دې كبله ددې ټولو مقدمو نتيجه داسوه چې معراج دكال ١٠ څخه وروسته په كال ١١ نبوى کې دطائف دسفرله راستنيد وروسته په يوه مياشت کې سوى دى اوپاته سوه داخبره چې په كومه مياشت کې سوى دې ، په دې كى اختلاف دى. لومړى خور ، ياڅلورمه خور ، ياروژه ، يادكوچنى اخترمياشت پنځه خبرى دى مشهوره دادى چې درجب د مياشتى په اووه ويشتمه معراج سوى دى (هذاماظهرلى بعدمراجعة شرح المواهب جلد١ صفحه ٢٠٧ والله سبحانه وتعالى اعلم)

باريكى :لسم كال دنبوت تيرسو دابتلاء اوازمويښت ټول منزلونه اوپړاوونه ووهل سو دظلم اوتيرى داسى نمونه پاته نه سوه چې هغه دالله ﷻ په لاره کې پرنبى كريم ﷺ باندى نه وى تيره سوى اوښكاره خبره ده چې دالله رب العزت په لاره کې ستونزى ګالل پرته له

(١) حافظ ابن قيم په زادالمعاد کې دطائف دسفرله قصه بيانولو وروسته ليکى چې ددې څخه وروسته دنبى كريم ﷺ معراج وسو چې له هغه څخه دامعلوميږي چې دحافظ ابن القيم په نظرد اسرا او معراج پيښه دطائف دسفرله راستنيد وروسته سوى اوددې خبرى حاصل داسو چې معراج په كال ١١ نبوى کې وسو)

سیف لودین کتابتون

له عزت اولوړوالی اوعروج اوترقی بل څه نه وی، هرکله چی دشعب ابی طالب اودطائف په سفرسره ستونزی اوتکلیفونه خپل اوج ته ورسیدل نوالله عزوجل په بدل کې داسراء اومعراج عزت نبی کریم ﷺ ته ورکړاونبی کریم ﷺ یې دومره لوړ کی چی افضل الملائکه المقربین(۱) علیه السلام یعنی جبرئیل امین علیه السلام هم شاته پاته سو اوداسی ځای ته ولاړی چی هغه دکائناتوپای اوآخردی یعنی ترعرش عظیم پوری چی ترهغه وروسته بل ځای نسته، ځکه یوشمیربزرګانوویلی دی چی ترعرش پوری په تګ کې وختم نبوت ته اشاره دی ځکه ټول کائنات پرعرش باندی ختمیږی په کتاب اوسنت سره ترعرش وروسته دهیڅ مخلوق وجودثابت نه دی همدغه شان دنبوت اورسالت ټول کمالات پرنبی کریم ﷺ باندی پای ته رسیدلی دی (فافهم واستقم)

دمعراج دپیښي تفصیلي بیان؛

قال الله عزوجل :سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ (۱) سورة الاسراء)

پاک دي هغه ذات چی خپل خاص بنده یعنی محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم یې دشپي په یوه لږبرخه کې له مسجدحرام څخه مسجداقصی ته ورسوی اوددې اصل هدف داوو چی په نبی کریم ﷺ باندی داسمانوسیل وکوی اوهغه ته دهغه ځای خاص نښی نښانی وروښیو ،، اودنښونښانوڅه یادونه په سورة نجم کې سوی ده (۲)

نبی کریم ﷺ سدرة المنتهی ته ورسیدی اوهلته یې دجنت اودوزخ اودقدرت دنورو عجائبولیدنه وکړه ربنتیاهم اصلی اوریدونکي اواصلی لیدونکی الله جل جلاله دی دالله جل جلاله چی خوښه وی هغه چاته دخپل قدرت نښی نښانی ورښیی اوبیاهغه بنده دالله جل جلاله په لیدنه سره دیدکوی اودالله عزوجل په اورولوسره اوری.

دعلماء په اصطلاح کې له مسجدحرام څخه بیاترمسجداقصی پوری تګ ته اسراء وایې ، اوله مسجداقصی څخه بیاترسدرة المنتهی پوری تګ ته معراج وایې اوډیروخت دوئ دواړوته اسراء اومعراج ویل کیږی ، معراج ته په دې وجه معراج ویل کیږی چی معراج معنی ځینه ، ومسجداقصی ته له رسیدووروسته دنبی کریم ﷺ لپاره له جنت یوه ځینه راوړل سوه اودهغې ځنی په ذریعه اسمانوته وختی ددې ځنی یادونه په یوروایت کې راغلی ده (زرقانی جلد ۶صفحه ۳۳تر ۵۵)

---

(۱) اشارة الی مااخرجه الطبرانی بسندضعیف عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الااخبرکم بافضل الملائکة جبرائیل (کذافی روح المعانی جلد ۱ صفحه ۳۰۱)

(۲) کماقال الله تبارک وتعالی : وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى (۱۳) عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى (۱۴) عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَى (۱۵) إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى (۱۶) مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى (۱۷) لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى (۱۸) سورة النجم }.

سیف لودین کتابتون

په قرآن کریم کې خو دا پېښه ډېره کوتاه یاده سوې خو په احادیثو کې د دې پېښې تفصیل راغلی دی او د هغو خلاصه داسې دی : یوه شپه نبي کریم ﷺ دام هانئ په کور کې په بستره باندې آرام کوی د نیم خوبي په حالت کې وو چې ناڅاپه د خونې بام دوه ځایه سو او له جنت څخه جبرئیل علیه السلام راکښته سو له هغه سره نوري فرښتې هم ملګرې وې نبي کریم ﷺ یې راکښېنوی او مسجد حرام ته یې بوتلی هلته ولاړي په حطیم کې یې څنګ ولګوی او ویده سو جبرئیل علیه السلام او میکائیل علیه السلام راغلو نبي کریم ﷺ یې راکښېنوی او د زمزم وڅاه ته یې بوتلی او راوې پرزوی سینه مبارکه یې ورڅیرې کړه او زړه مبارک یې څنې راوایستی او د زمزم په اوبو یې پرېولی او د سروزرو یوه کاسه راوړل سوه چې له ایمان او حکمت څخه ډکه وه د غه ایمان او حکمت یې د نبي کریم ﷺ په سینه مبارکه کې واچوي ، او سینه مبارکه یې ور وګنډله او د دواړو اوږو په مینځ کې یې مهر نبوت ولګول سو چې هغه د نبي کریم ﷺ د خاتم النبیین کېدو ښکاره او په سترګو لیدونکې نښه وه .

له دې وروسته براق راوستل سو ،براق د جنت د یوه حیوان نوم دی چې تر قچر لږ کوچنی او تر خره لږ غټ سپین رنګ او د برېښنا په څېر تیزوو او د هغه یو ګام به د لته او بل ګام به یې هلته لګیدی چې د سترګو دید به رسیدی ، براق مستي کوله جبرئیل علیه السلام ورته وویل اې براق دا څرنګه مستي دی ستا پرشا باندې تر ننه پورې د نبي کریم ﷺ څخه زیات د الله جل جلاله عزت مند بنده نه دی سپور سوی ،براق د شرم په وجه خولې خولې سو او نبي کریم ﷺ یې واخیستی روان سو جبرئیل علیه السلام او میکائیل علیه السلام ورسره سپاره و په دې رقم سره نبي کریم ﷺ روان سو ،

او له یوشمیر روایاتو داسې معلومېږي چې جبرئیل علیه السلام نبي کریم ﷺ پر براق سپور کې او په خپه له شا ورپسې سپور سو (زرقاني او خصائص کبری باب المعراج)

له شداد بن اوس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل چې په لاره کې پر داسې ځمکه باندې تیر سو چې په هغې کې د خورماوو ونې بیخې ډېرې وې جبرئیل علیه السلام وویل دلته کښته سه او نفل لمونځ وکوه زه کښته سوم او لمونځ مې وکې ، جبرئیل علیه السلام وویل ته په دې خبرې چې ته چیرې کښته سوې ، ما ورته وویل نه ، جبرئیل علیه السلام وویل تا په یثرب کې یعني مدینه منوره کې لمونځ وکړ دا هغه ځای دی چې ته به هجرت ورته کوی ، له دې وروسته بیا روان سو او یو بل ځای ته ورسیدو جبرئیل علیه السلام راته وویل دلته هم کښته سه او لمونځ وکوه ، زه هم دلته کښته سوم او لمونځ مې وکې ، جبرئیل علیه السلام راته وویل تا په وادی سیناء کې د موسی علیه السلام ونې ته نژدې لمونځ وکې چیرې چې الله جل جلاله له موسی علیه السلام سره خبرې کړې وې ، وروسته بیا روان سو یوه بل ځای ته ورسیدو بیا جبرئیل علیه السلام راته وویل کښته سه او لمونځ وکوه ، زه هم کښته سوم او لمونځ مې وکې ، جبرئیل علیه السلام راته وویل تا

سیف لودین کتابتون

په مدين کې لمونځ وکي هغه چې د شعيب ؑ د اوسيدو ځای و، له هغه ځايه بيا روان سو اويوی بلی ځمکی ته ورسيدو جبرئيل ؑ راته وويل کښته سه لمونځ وکوه، زه کښته سوم او لمونځ مي وکی، جبرئيل ؑ راته وويل دا بيت اللحم دی هغه ځای چې د عيسی ؑ زوکړه پکښي سوی دی، (اخرجه ابن ابي حاتم والبيهقي وصححه والبزار والطبراني عن شداد بن اوس(۱) واما قصة الصلاة بطور سيناء حيث كلم الله موسی ؑ فقد اخرجها النسائي عن انس بن مالك ؓ كما في خصائص كبری جلد ۱ صفحه ۱۵۳ وكذا ذكر هذا التفصيل في شرح المواهب المجلد ۶ صفحه ۳۹)

دسفر نادري پيښي او د عالم مثال بی مثاله مثالونه؛

[۱] نبی کريم ﷺ پر براق باندی سپور روان وو پر لار په يوه زړه ښځه باندی تيرسو هغې د ته ناره وکړه، جبرئيل ؑ ورته وويل مخکې ځه او دې خواته مه ګوره مخ ته روان وو بيا يې يو سپين ږيری سړی وليدی هغه هم نبی کريم ﷺ ته ناره وکړه، جبرئيل ؑ ورته وويل مخکې ځه هغې خواته مه ګوره، نبی کريم ﷺ روان وو بيا د خلکو پر يوه ټولۍ باندی تيرسو هغوئ په دې الفاظو ورته سلام وواېو اسلام عليک يا اوّل اسلام عليک يا آخر اسلام عليک يا حاشر. جبرئيل ؑ ورته وويل ته دوئ ته د سلام جواب ورکړه. وروسته جبرئيل ؑ نبی کريم ﷺ ته وفرمايل چې هغه زړه ښځه چې د لاري په څنګ کې ولاړه وه هغه د نيا وه د دنيا عمر دومره لږ پاته دی لکه د دغی زړی ښځی، او هغه سپين ږيری سړی بيا شيطان وو د دواړو مقصد داوو چې تا د خپل ځان و خواته مائل کی، او هغه ټولۍ خلک چې پر تا يې سلام واچوی هغه ابراهيم ؑ او موسی ؑ او عيسی ؑ (اخرجه ابن جرير والبيهقي عن انس ؓ (۲)

[۲] په صحيح مسلم کې له انس ؓ څخه روايت سوی چې نبی کريم ﷺ وفرمايل چې د معراج په شپه زه پر موسی ؑ باندی تيرسوم او ما هغه وليدی چې په قبر کې لمونځ کوی (۳) او د ابن عباس ؓ په روايت کې راغلی دی چې نبی کريم ﷺ وفرمايل چې ما د معراج په شپه موسی ؑ او دجّال او خازن نار يعنی د دوزخ خزانچي فرشته وليدله چې د جهنم متصرف (اخرجه الشيخان عن ابن عباس ؓ ولينظر هل كانت هذه الرؤية في الارض او في السماء والله اعلم (۴)

[۳] نبی کريم ﷺ په لاره کې پر يوداسی قوم تيرسو چې د هغوئ نوکان د تانبې وو هغوئ خپل مخونه او سينې په دې نوکانو سره توږل، نبی کريم ﷺ له جبرئيل ؑ څخه پوښتنه وکوله هغه وويل چې دا هغه خلک دی چې د انسانانو غوښې خوری، يعنی د هغوئ غيبت کوی او د هغوئ عزت اخلی (اخرجه احمد وابو داوٗد عن انس (۵)

---

(۱) الخصائص الكبری جلد ۱ صفحه ۱۵۸، فتح الباری جلد ۱ صفحه ۱۵۳)
(۲) الخصائص الكبری جلد ۱ صفحه ۱۵۵، تفسير ابن كثير جلد ۶ صفحه ۸)
(۳) الخصائص الكبری جلد ۱ صفحه ۱۵۶)
(۴) الخصائص الكبری جلد ۱ صفحه ۱۵۶)
(۵) الخصائص الكبری جلد ۱ صفحه ۱۶۰)



سیف لودین کتابتون

[۴] نبی کریم ﷺ یوسړی ولیدی چې په ویاله کې غوټې وهی اوله کانړوګولې جوړوی او هغه خوری نبی کریم ﷺ له جبرئیل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چې داڅوک دی ؟هغه ځواب ورکی چې داسود خواره دی (اخرجه ابن مردویه عن سمرة بن جندب ﷺ)

[۵] نبی کریم ﷺ پرداسی خلکوتیرسو چې په یوه ورځ تخم کری اوپه یوه ورځ لوکوی هم اوترپریکولووروسته پټې بیرته هغه رنګه شین کیږی لکه مخکی چې و، نبی کریم ﷺ له جبرئیل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چې داڅوک دی ؟ جبرئیل علیه السلام ورته وویل داهغه خلک دی چې دالله ﷻ په لاره کې جهادکوی ددوئ یوه نیکي تراووه سوه ۷۰۰ نیکیوهم زیاتیږی اودوئ چې هرڅه مصرف کې الله عزوجل ښه بدله ورکوی .

[۶] نبی کریم ﷺ پرداسی خلکوتیرسو چې دهغوئ سرونه په ډبرو میده کیږی ترمیده کید وروسته بیرته جوړیږی لکه مخکی چې و اوداکارروان وی نه ختمیږی ، نبی کریم ﷺ پوښتنه وکړه چې داڅوک دی ؟ جبرئیل علیه السلام وویل داهغه خلک دی چې په فرض لمانځه کې سُستی کوی

[۷] نبی کریم ﷺ پرداسی خلکوتیرسو چې دهغوئ په فرج باندی مخ اوشاته ته چتړی تاؤشوی وی اوداوښانواوغوایانوپه شان څریږی ضریع اوزقوم یعنی ازغی اودجهنم کانړی خوری نبی کریم ﷺ پوښته وکړه چې داڅوک دی ؟ جبرئیل علیه السلام وویل داهغه خلک دی چې دخپل مالوزکوة نه ورکوی .

[۸] نبی کریم ﷺ داسی خلک ولیدل چې دهغوئ مخ ته په یوه کټوکې پخه غوښه پرته وی اوپه بله کټوکی اومه خامه غوښه وی دوئ داخامه غوښه خوری ، نبی کریم ﷺ پوښتنه وکړه ، چې داخلک څوک دی ؟

جبرئیل علیه السلام وویل داستادامت هغه خلک دی چې دده خپله حلال ښځه وی مګر هغه له یوی زناکاری اوبدکاری ښځي سره شپه تیروی اویاهغه ښځی دی چې حلال اوښه میړه لری دوئ هغه پریږدی اوله زناکاراوبدکاره سړی سره شپه تیروی ،

[۹] نبی کریم ﷺ په لارکې داسی لرګئ ولیدی چې دلاری پرسرولاړوی جامه یابل شئ چې دته نژدی سی هغه شکوی اوپریکوی یې ، نبی کریم ﷺ له جبرئیل علیه السلام څخه پوښتنه وکوله چې داڅه دی ؟ جبرئیل علیه السلام ورته وویل داستاپه امت کې دهغه خلکومثال دی چې په لاره کی ناست وی اودلاری په تیریدونکو باندی ډاکی غورزوی .

[۱۰] نبی کریم ﷺ پرداسی خلکوتیرسو چې هغوئ دلرګیولوی بار ترلی وی اودهغه دپور ته کولوتوان نه لری خودوئ نورلرګی هم راوړی اوپرایږدی یې ، نبی کریم ﷺ پوښتنه وکوله ، چې داڅوک دی ؟ جبرئیل علیه السلام وویل چې داستادامت هغه خلک دی چې پرهغه باندی دخلکوحقونه اوامانتونه وی دئ هغه نه سی اداکولای اوله دې سره سره دنوروخلکوڅخه هم پورونه کوی اوخپل باردرونده وی ..

سیف لودین کتابتون

[۱۱] نبی کریم ﷺ پرداسی خلکو تیرسو چی دهغوئ ژبی اوشونډی داوسپنی په غچی پری کیدلی اوکله چی به پری سوی نوبیرته به دمخکی په شان جوړی روغی سوی اودې عذاب دوام درلودی نه ختمیدی،نبی کریم ﷺ پوښتنه وکوله چی داییاڅوک دی ؟ جبرئیل ﷺ وویل داستادامت هغه خطیبان او نصیحت کونکي دی چی بل ته وایې اوپه خپله عمل نه په کوی (دیقولون مالایفعلون ، مصداق دی) یعنی نوروته نصحیت اولارښودنه کوی خوپه خپله عمل نه په کوی (اخرجه ابن جریر والبزار وابویعلی والبیهقی عن ابی هریرة ﷺ (۱) وحدیث قرض الشفار بمقاریض الحدید اخرجه ابن مردویه عن انس ﷺ ،

[۱۲] نبی کریم ﷺ پرداسی ځای تیرسو چی هلته تراندازه زیاته یخه اوخوشبویه هوالګیدله ، جبرئیل ﷺ وویل دادجنت خوشبویی دی اوله هغه وروسته پرداسی ځای تیرسو چی هلته ډیربدبوئ تلی ، جبرئیل ﷺ وویل دادجهنم بدبویې دی (۲)

پاملرنه !داتولی پیښي اسمان ته ترختلومخکې دی ځکه په روایاتوکی ددې پیښو یادونه دبراق له سپریدووروسته سمدستي اومسجداقصی ته تررسیدومخکی راغلی دی ځکه موږ وایو چی داپیښي ټولی داسمان ترختلومخکی سوی دی والله اعلم)

نزول اقدس علی بیت المقدس (۳) دپاک نبی ﷺ راکښته کیدل په پاک کور کې ؛

لنډه داچی نبی کریم ﷺ په داسی طریقه بیت المقدس ته راورسیدی اوله براق کښته سو ، په صحیح مسلم کی له انس ﷺ څخه روایت سوی دی چی نبی کریم ﷺ براق په هغه موږی پوری وتړی چی انبیاء علیهم السلام به خپلی سورلۍ پوری تړلی ، اودبزارپه روایت کی راغلی دی چی جبرئیل ﷺ په یوه کاڼی کې په ګوته سورروی وکي ، اوبراق یې پوری وتړي ، داهیڅ عجبه نه دې چی دبراق په تړلوکې دواړه شریک وی کیدای سی چی دوخت په تیریدوسره هغه سوری بندسوی وی په دې وجه جبرئیل ﷺ هغه په خپله ګوته مبارکه سره خلاص کړی وی له دې وروسته نبی کریم ﷺ مسجداقصی ته داخل سو اودوه رکعته تحیة المسجد (۴)یې اداکړل (رواه مسلم عن انس ﷺ ، زرقانی جلد ۶ صفحه ۴۵)

له ابوسعیدخدری ﷺ څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل چی زه اوجبرئیل ﷺ دواړه مسجدته داخل سو اوموږ دواړودوه رکعته لمونځ وکی (رواه البیهقی (۵)

---

(۱) الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۱۷۲ ، زرقانی جلد ۱ صفحه ۴۱)

(۲) الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۱۷۲)

(۳) په نزول اقدس کې ترکیب توصیفی اوترکیب اضافی دواړه کیدای سی اوداهم کیدای سی چی په یوه لفظ سره ددواړونیت وکړل سی لکه چی دامذهب دامام شافعی رحمه الله دی یاپه دوه تلفظه کې دی لکه چی دامذهب دامام ابوحنیفه رحمه الله البته په ترکیب توصیفی کی داقدس اسنادنزول ته اسنادمجازی دی فافهم ذلک واستقم (منه عفاالله عنه)

(۴) داتحیة المسجدلفظ دمسلم په روایت کی نسته) خصائص کبری جلد ۱ صفحه ۱۷۲،

(۵) خصائص کبری جلد ۱ صفحه ۱۷۲، ابن کثیر صفحه ۳۰۲)

دنبی کریم ﷺ ترراسيدومخکې انبیاء علیهم السلام رارسیدلی وه اودنبی کریم ﷺ په انتظاوو په دوئ کې ابراهیم علیه السلام اوموسی علیه السلام اوعیسی علیه السلام هم وو (۱)

لږوخت لانه ووتیرسوی چی ډیرحضرات په مسجداقصی کې رايوځای سو بیایومؤذن آذان وکی ورپسی یې اقامت وکي موږ صف وتړی ودریدوموږ په دې انتظاروو چی څوک به لمونځ راکوی جبرئیل علیه السلام زمالاس ونیوی اومخکې یې کړم ماټولوته لمونځ ورکي کله چی له لمانځه خلاص سونوجبرئیل علیه السلام راته ویل ته په دې خبرېې چی تاوچاته لمونځ ورکی ماورته ویل نه ، جبرئیل علیه السلام وویل څومره انبیاء علیهم السلام چی دنیاته رالیږل سوی دی ټولوپه تاپسی اقتداء وکړه (اخرجه ابن ابی حاتم عن انس رضی الله عنه (۲)

اوپه یوروایت کې راغلی دی چی دنبی کریم ﷺ په راتګ سره له سمان فرشتي هم رابښکته سوی نبی کریم ﷺ ټولوانبیاء اوملائکه علیهم السلام ته امامت ورکی ، کله چی لمونځ پوره سو نوملائکه ووجبرئیل علیه السلام ته وویل چی داستاملګری څوک دی ؟(۳)جبرئیل علیه السلام وویل دا محمدصلی الله علیه وسلم دی اخرجه ابن جریروالبزار وابویعلی والبیهقی من طریق ابی العالیة عن ابی هریرة

اوپه یوبل روایت کې راغلی دی چی جبرئیل علیه السلام وویل دامحمدرسول الله خاتم النبیین ﷺ دی ،فرشتو وویل آیادده درابللوپیغام لیږل سوی دی ؟ جبرئیل علیه السلام وویل هو ،فرشتو وویل الله جل جلاله دې ژوندی اوروغ لری ډیر ښه ورور اوډیرښه خلیفه دی یعنی زموږ ورور او د الله جل جلاله خلیفه دی ، تردې وروسته نبی کریم ﷺ دانبیاء علیهم السلام له اروحوسره ملاقات وسو ټولو دالله جل جلاله ثناء اوحمد ووایو :

دابراهیم علیه السلام حمد ،

ابراهیم علیه السلام په دې الفاظ دالله جل جلاله صفت اوستاینه وکړه :

الحمدلله الذی اتخذنی خلیلا واعطانی ملکا عظیما وجعلنی امتاً قانتاً یؤتم بی وانقذنی من النار وجعلها علی برداً وسلاماً. ژباړه :ټول صفتونه هغه پاک ذات لره دی چی زه یې خپل دوست وګرزولم او ماته یې لویه پاچهی راکړه اوامام اوپیشوایې کړم اواورېې پرمابانده یخ اوسالم وګرزوئ

دموسي علیه السلام ثناء اوصفت :

الحمدلله الذی کلمنی تکلیما وجعل هلاک آل فرعون ونجاة بنی اسرائیل علی یدی وجعل من امتی قوما یهدون بالحق وبه یعدلون. ژباړه :صفت اوستاینه هغه ذات لره دی چی له ماسره یې بی له وا سطی خبری وکولی اودفرعون دقوم هلاکت اوتباهی اودبنی اسرائیلو خلاصون یې زما په لاس ښکاره کی اوزماپه امت کې یې داسی قوم پیداکی چی دحق لاربښوونه اوانصاف کوی

(۱) زرقانی جلد۶ صفحه ۴۵)

(۲)ففی حدیث انس رضی الله عنه عن نسائی ثم دخلت بیت المقدس فجمع فیه الانبیاء علیهم السلام فقدمنی جبرئیل علیه السلام حتی اممتهم (ابن کثیر جلد۶ صفحه ۹)

(۳) دحدیث الفاظ داسی دی ، ثم صارحتی اتی بیت المقدس فنزل فربط فرسه الی الصخرة ثم دخل فصلی مع الملائکة فلماقضیت الصلاة قالوا یاجبرئیل من هذا معک قال محمدصلی الله علیه وسلم)

دداؤد علیه السلام ثناء اوصفت :

سيف لودين كتابتون

الحمدلله الذی جعل لی ملکا عظیما وعلمنی الزبور ولی الحدید وسخر لی الجبال یسبحن والطیر واعطانی الحکمة وفصل الخطاب:

ژباړه: ستاینه هغه سپیڅلی ذات لره دي هغه چې ماته يې لويه پاچهي راکړه اوزبوريې راوښودی اواوسپنه يې زمادپاره نرمه که،اوغرونه اومرغان يې زماتابع کړل چې له ماسره يې دالله ﷻ پاکی لوستله اوماته يې علم اوحکمت اوزړه راکښونکي تقريرراکړی

دسليمان عليه السلام حمداوثناء

الحمدلله الذی سخر لی الریاح وسخرلی الشیاطین یعملون ماشئت من محاریب وتماثیل وجفان کالجواب وقدور راسیات وعلمنی منطق الطیر واتانی من کل شئ فضلا وسخر لی جنودالشیاطین والانس والطیر وفضلنی علی کثیر من عبادہ المؤمنین وآتانی ملکا عظیما لاینبغی لاحد من بعدی وجعل ملکی ملکا طیبا لیس فیه حساب.

ژباړه: ستاينه اوصفت دهغه پاک اوسپيڅلی ذات کوم چې باد اوشيطانان اوپيريانان يې زما تابع کړی وو زماپه حکم به چليدل اودمرغانو خبری يې ماته راښودلی وی اودپيريانو اوانسانانو اومرغانو لښکريې زماتابع کړی اوزه يې په ډيروبندګانو کې غوره کړم اوداسی لويه پاچهي يې راکړه چی ترما وروسته به چاته مناسب نه وی اونه له ماسره د دې حساب اوکتاب کيږی.

دعيسی عليه السلام حمدا وثناء؛

الحمدلله الذی جعلنی کلمة وجعل مثلی مثل آدم خلقه من تراب ثم قال له کن فیکون وعلمنی الکتاب والحکمة والتوراة والانجیل وجعلنی اخلق من الطین کهیئة الطیر فانفخ فیه فیکون طیرا باذن الله وجعلنی ابرئ الاکمه والابرص واحی الموتی باذن الله ورفعنی وطهرنی واعاذنی وامی من الشیطان الرجیم فلم یکن للشیطان علینا سبیلا:

ثنا اوصفت هغه پاک ذات لره وی چې زه يې کلمه ګرزولی يم اودآدم عليه السلام په څير يې پرته له پلاره پيداکړم اومرغان پيداکول اومړی ژوندی کول اودپيس مرض اودمورزاده ړوند جوړولو معجزی يې ماته راکړی اودتورات اوانجيل علم يې راکی زه اوزماموريې د شيطان له شره وساتلو اوزه يې اسمان ته پورته کم اودکافرانوله ملګرتيا څخه يې پاک کم

دمحمدمصطفی صلی الله عليه وسلم حمد اوثناء؛

الحمدلله الذی ارسلنی رحمة للعالمین وکافة للناس بشیرا ونذیرا وانزل علی الفرقان فیه بیان لکل شئ وجعل امتی خیرامة اخرجت للناس وجعل امتی هم الاولین والآخرین وشرح لی صدری ووضع عنی وزری ورفع ذکری وجعلنی فاتحا وخاتما:

ژباړه: حمداوثناء دی وی هغه سپيڅلی ذات لره چې زه يې دټول مخلوق لپاره رحمت راليږلی يم اودټول عالم دپاره يې زيری ورکونکي اوويره ونکي ګرزولی يم اوپرما باندی يې قران کريم نازل کړی او په هغه کې يې ټول دينی کارونه ښکاره يااشارة بيان کړی دی اوزماامت يې غوره دامتو ګرزولی دی، اوزماامت يې اول اوآخر ګرزولی دی يعنی په

سیف لودین کتابتون

ښکاره خوآخري دی مګر په رتبه کې اول دی اوزماسینه یې خلاصه کړه اوزمایادونه یې لوړه که اوزه یې فاتح جوړکړم یعنی په وجودروحانی کې ترټولواول اوپه نبوت او ظاهر ی جسم کې ترټولوآخری نبی یې وګرزولم ،

نبی کریم ﷺ چی کله له حمداوثناء فارغه سونوابراهیم علیه السلام ونورو انبیاء علیهم السلام ته وفرما یل بهذا فضلکم محمد صلی الله علیه وسلم . ددې فضائلو او کمالاتو په وجه محمدصلی الله علیه وسلم ترتاسوټولوغوره سو (۱)

کله چی نبی کریم ﷺ له حمدویلوخلاص سو (۲) نوله مسجدڅخه دباندی راووتی دده ومخ ته درې پیالی کیښودل سوی ، یوه دابو ، اوبله دشیدو ، اودریمه دشرابو ، نبی کریم ﷺ دشیدوپیاله غوره که ، جبرئیل علیه السلام ورته وویل تافطری دین خوښ کی که تاشراب غوره کړی وای نوستاامت به بیلاری سوی وو اوکه دې اوبه غوره کړی وای نوستاامت به غرق سوی و اوپه بعض روایاتوکې راغلی دی چی دعسلوپیاله هم راوړل سوه ، اونبی کریم ﷺ له هغې پیاله څخه هم څه وڅکل،لنډه داچی دټولوروایاتوله یوځای کیدداسی معلومیږی چی څلورپیالی راوړل سوی دی ، دتفصیل دپاره زرقانی ته رجوع وکی ، (۳)

واسمانوته ختل :

وروسته نبی کریم ﷺ دجبرئیل علیه السلام اونوروفرشتوسره یوځای اسمانوته وختی له یوشمیر روایاتومعلومیږی چی نبی کریم ﷺ دمخکې په څیرپربراق سپورآسمانوته وختی،اوله نوروروایاتوڅخه داسی معلومیږی چی مسجداقصی ته تررسیدلو وروسته له جنت دزمرد اوزبرجدو ځینه راوړل سوه پرهغې ځینه اسمان ته وختی اودځنی راسته اوچپه خواته دالله ﷻ فرشتی دنبی کریم ﷺ په ملګری نازکوی .

قال ابن اسحق واخبرنی من لایتهم عن ابی سعید قال سمعت رسو ل الله صلی الله علیه وسلم یقول لمافرغت مما کان فی بیت المقدس اتی بالمعراج ولم ارشیئا قط احسن منه وهوالذی یمد الیه میتکم علیه اذاحضر فاصعدنی فیه صاحبی حتی انتهی بی الی باب من ابواب السماء یقال له باب الحفظة (الحدیث کذافی البدایه والنهایه جلد۳ صفحه ۱۱۰ للحافظ ابن کثیر وکذافی شرح المواهب للزرقانی جلد۶ صفحه ۵۵)

ژباړه :ابن اسحاق وایې چی باوری اوداعتماوړسړی ماته ویلی دی چی ابوسعیدخدری رضی الله عنه ویل چی ماله رسول الله ﷺ څخه اوریدلی دی چی کله زه د بیت المقدس له کاروڅخه

(۱) خصائص کبری جلد۱ صفحه ۱۷۳)

(۲) له یوشمیرروایاتومعلومیږی چی دادرې پیالی دسدرة المنتهی څخه وروسته راوړل سوی حافظ ابن حجر فرمایلی دی چی کیدای سی چی داپیالی دوه ځله راوړل سوی وی یوځل مسجداقصی ته دلمانځه له خلاصیدوروسته اودویم ځل په سدرة المنتهی کې اودشیدوخوښول دحقانیت دیرتاکید اومقصوددی والله اعلم (زرقانی جلد ۶ صفحه ۴۸)

(۳) زرقانی جلد ۶ صفحه ۴۷)

سیف لودین کتابتون

روزګارسوم نوداسی ځینه راوړل سوه چې ماترهغې ښائسته شئ نه دی لیدلی داهغه ځینه وه چې پردې باندی دانسانانورو حونه اسمان ته پورته خیژی اودمرګ په وخت کې مړی دې ته ګوری زه دلاری ملګری جبرئیل علیه السلام په هغه ځینه کې وخیژولم ترڅو چې زه داسمان یوی دروزای ته ورسیدم اوهغې دروازې ته باب الحفظة وایې .

حافظ ابن کثیرفرمایې (۱)چې رسول الله ﷺ دبیت المقدس له وزګاریدو وروسته دهمد غه ځنی په ذریعه اسمان ته وختی ،اوبراق یې دمسجداقصی له دروازی سره تړل سوی وو کله چې نبی کریم ﷺ پربیت المقدس باندی راکښته سو بیرته پرهغه براق باندی سپورمکی مکرمی ته ولاړی (البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۱۱۰)

اوکیدای سی چې رسول الله ﷺ په براق سپورپرهمدغه ځینه باندی اسمان ته ختلی وی لکه چې داقول هم دیوشمیرعلماء دی په دې صورت کې ټول روایتونه جمع کیدای سی اودارنګه داصورت دنبی کریم ﷺ دزیات عزت اوشرافت سبب هم دی

داسمانوسفر اوپه اسمانوکې له انبیاء علیهم السلام سره دنبی کریم ﷺ لیدنه ؛

په دې ترتیب نبی کریم ﷺ اول اسمان ته ورسیدی جبرئیل علیه السلام دروازه خلاصه که ددنیا داسمان ددروازی پیره دار پوښتنه وکړه چې ستاسره څوک دی ؟ جبرئیل علیه السلام وویل محمدرسول الله ﷺ دی فرښته وویل آیاده درابللوپیغام لیږل سوی دی ؟ جبرئیل علیه السلام وویل هو .فرښتو مرحباورته وویل اودروازه یې پرانستله نبی کریم ﷺ اسمان ته داخل سو اودیرښائسته خلک یې ولیدل ، جبرئیل علیه السلام ورته وویل داستاپلار آدم علیه السلام دی ده ته سلام وکړه نبی کریم ﷺ سلامورواچوی ، ادم علیه السلام دسلام ځواب ورکی اوورته وې ویل (مرحباً بالابن الصالح والنبی الصالح)ښه راغلی وایم ونیک زوی اونیک نبی ته ، اودنبی کریم ﷺ لپاره یې دخیردعاوکړه نبی کریم ﷺ په دغه وخت کې ولیدل چې څه صورتونه راسته اوڅه چپه خواته دادم علیه السلام دی آدم علیه السلام چې کله راسته خواته وګوری نوخوشحاله سی اووخاندی اوکله چې چپه خواته وګوری نو وژاړی جبرئیل علیه السلام وویل وراسته خواته دښوخلکوصورتونه دی دااصحاب الیمین جنتیان دی ودې ته چې وګوری نوآدم علیه السلام خوشاله سی اوچپه خواته اصحاب الشمال یعنی دوزخیان دی کله چې هغوئ ته وګوری نووژاړی ، داټول مضمون دصحیح بخاری اوصحیح مسلم په روایتوکی راغلی دی ..

---

(۱) وعبارته هکذا: والمقصود انه صلی الله علیه وسلم لمافرغ من امر بیت المقدس نصب له المعراج وهو السلم فصعد الی السماء ولم یکن الصعود علی البراق کمایتوهم بعض الناس بل کان البراق مربوطا علی باب مسجدبیت المقدس لیرجع علیه الی مکة . وذکرفی تفسیر ابن کثیر سوره اسراء جلد۳ صفحه ۲۸ . ثم نزل الی بیت المقدس ثانیاً وهم (ای الانبیاء) معه وصلی بهم ثم انه رکب البراق وکرر راجعاً الی مکة والله اعلم ۱۲انتهی کلامه) . قال النعمانی ماالمانع من انه صلی الله علیه وسلم رقی المعراج فوق ظهر البراق بظاهر الحدیث (زرقانی جلد۶ صفحه ۳۳)

سیف لودین کتابتون

اوپه مسندبزارکی له ابوهریرة ﷺ روایت سوی دی چی دادم علیه السلام وراسته خواته یوه دروازه وه چی له هغې څخه زیاته خوشبویي راتله اوچپه خواته یوه بله دروازه وه چی له هغې بیاډیره بدبویې راوتله کله چی راسته خواته وګوری نوخوشحاله سی اوکله چی چپه خواته وګوری نوغمجن اوخفه سی (زرقانی جلد ۶ صفحه ۶۰)

بیانبی کریم ﷺ ودویم اسمان ته ورسیدی اودغه شان جبرئیل علیه السلام دروازه پرانستله هلته چی کوم چوکیداروو هغه پوښتنه وکړه ستاسره څوک ملګری دی جبرئیل علیه السلام ورته وویل محمدصلی الله علیه وسلم دې هغه فرشتی وویل آیادئ راغوښتل سوی دی ؟ جبرئیل علیه السلام وویل هو فرشتی وویل (مرحبانعم المجئ جاء مرحبا) ښه راغلی ډیر ښه راتلونکی دی ډیر ښه راغلی په دویم اسمان کې یې یحی علیه السلام اوعیسی علیه السلام ولیدل ، جبرئیل علیه السلام ورته وویل دایحی اوعیسی علیه السلام دی دوئ ته سلام واچوه ؟ نبی کریم ﷺ دوئ دواړوته سلام وکی دوئ دواړودسلام ځواب ور کی اوورته وې ویل (مرحبا بالاخ الصالح والنبی الصالح) ښه راغلی دی وی نیک ورور اونیک نبی علیه السلام ته ،

وروسته دریم اسمان ته وختی اوجبرئیل علیه السلام همدغه شان دورازی ورته خلاصولی په دریم اسمان کې یې له یوسف علیه السلام سره ملاقات وسو اودغه رنګه خبری اوسلام یې ورته وکی نبی کریم ﷺ وفرمایل یوسف علیه السلام ته دښائست اوجمال یوه لویه برخه ورکړل سوی وه ،

وروسته څلورم اسمان ته وختی هلته یې له هارون علیه السلام سره ملاقات وسو

وروسته شپږم اسمان ته وختی اوهلته یې له موسی علیه السلام سره ملاقات وسو ،

وروسته اووم اسمان ته وختی اوهلته یې له ابراهیم علیه السلام سره ملاقات وسو نبی کریم ﷺ ابراهیم علیه السلام ولیدی چی وبیت المعمورته یې شالګولی اوناست دی بیت المعمور دملائکه وو قبله دی دکعبی شریف برابردی بالفرض که هغه راولویږی نوپه کعبه به سیده موښلی هره ورځ اویا ۷۰ زره ملائکه وی دبیت المعمورطواف کوی اوبیادهغوئ دویم ځل نوبت نه راځی جبرئیل علیه السلام ورته وویل داستاپلارابراهیم علیه السلام دی ده ته سلام وکوه ؟ نبی کریم ﷺ سلام ورته وکړ ابراهیم علیه السلام داسی ځواب ورکړ (مرحباً بالابن الصالح والنبی الصالح

سدرة المنتهی :

له دې وروسته نبی کریم ﷺ سدرة المنتهی ته پورته کړل سو چی تر اووم اسمان لوړ دبیری یوه درخته ده دځمکی څخه چی کوم شیان پورته کیږی هغه وسدرة المنتهی ته رسیږی او ترهغه لوړ ملأ اعلی (دفرشتومجلس) دی له هغه ځایه چی کوم شیان راکښته کیږی هغه پر سدرة المنتهی باندی دریږی بیاکښته راځی په دې وجه ددې نوم سدرة المنتهی دی (۱)

---

(۱)زرقانی جلد ۶ صفحه ۱۸)

سیف لودین کتابتون

په همدې ځای کې نبی کریم ﷺ جبرئیل علیه السلام په خپل اصلی شکل او هیئت ولیدی او د الله ﷻ عجیبه او نالیدلی رڼاګانی او تجلیات یې ولیدل او بی شمیره ملائکه وی او د سرو زرو پتنګان یې ولیدل چې د سدرة المنتهی پرشا و خوا راګرزی ،

د جنت او دوزخ لیدنه ؛

جنت سدرة المنتهی ته نژدې دی لکه چې د قرآن کریم له آیاتو داسی معلومیږی :

(عِندَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَىٰ (۱۴) عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَىٰ (۱۵) سورة النجم)

ځکه د ابو سعید خدری رضی الله عنه په حدیث کې راغلی دی چې نبی کریم ﷺ په بیت المعمور کې له لمونځ کولو وروسته سدرة المنتهی ته پورته سو او له سدرة المنتهی څخه وروسته جنت ته پورته کړل سو او د جنت له تګ وروسته و نبی کریم ﷺ ته دوزخ وړاندی سو یعنی دوزخ ورته وښودل سو (۱) او په صحیح بخاری او صحیح مسلم کې له ابوذر رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل زه سدرة المنتهی ته ورسیدم هلته ما عجیب او نالیدلی رنګونه ولیدل ما ته نه دی معلوم چې هغه څه وو بیا زه جنت ته داخل کړل سوم د هغه مانۍ له ملغلرو څخه وی او خټه یې له مشکو وه

د صریف الاقلام ځای ؛ (۲)

وروسته نبی کریم ﷺ پورته ولاړی او داسی لوړ ځای ته ورسیدی چې هلته یې صریف الاقلام و اوریدل (د لیکلو په وخت کی چې د قلم کوم آواز پیدا کیږی هغه ته صریف الاقلام وایې) په دغه ځای کې د قضاء او تقدیر قلم په لیکنه مشغول وو ملائکه وو د الله ﷻ د کارونو کتابت کوی او احکام الهیه له لوح محفوظ څخه نقل کول (۳)

تنبه ! د احادیثو له مطالعی وروسته داسی معلومیږی چې د صریف الاقلام ځای د سدرة المنتهی څخه لوړ دی ځکه په آحادیثو کی د صریف الاقلام ځای ته ختل تر سدرة المنتهی وروسته د ثم په لفظ راغلی دی او بل دا چې سدرة المنتهی ته په دې وجه سدرة المنتهی وایې چې د لوړی خوا څخه چې کوم احکام صادریږی د هغو پای سدرة المنتهی دی له دې معلومه سوه چې تر سدرة المنتهی لوړ یو بل ځای سته او له هغه ځایه د عالم د چلیدلو په اړه د احکام تکوینیه وو نزول کیږی هغه لوړ ځای صریف الاقلام دی ګواکی صریف الاقلام د الله ﷻ د تدبیر او تقدیر بلاتشبیه او تمثیل مرکزی دفتر او صدارت مقام دی د سدرة المنتهی او جنت او دوزخ له لیدلو وروسته نبی کریم ﷺ باندی دا ځای ولیدل سو دا رنګه د حدیث په روایاتو کی د لمنځو فرض کیدل او د الله ﷻ د خبرو ذکر د صریف الاقلام څخه وروسته راغلی ،له دې هم دا معلومیږی چې صریف الاقلام تر سدرة المنتهی وروسته دی و الله سبحانه و تعالی اعلم

(۱) الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۱۶۹)

(۲) صریف الاقلام ته د نبی کریم ﷺ رسیدل په بخاری او مسلم کې له ابن عباس رضی الله عنه او ابو حبئه انصاری رضی الله عنه څخه روایت سوی دی او د صریف الاقلام وضاحت له زرقانی را اخیستل سوی دی)

(۳) زرقانی جلد ۶ صفحه ۸۸)

دنو او تدلی نژدیکت او نور د الله ﷻ دیدار او خبری او د الله ﷻ حکمونه :

﴿ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ﴾(۸) ﴿فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ﴾(۹) ﴿فَأَوْحَىٰ إِلَىٰ عَبْدِهِ مَا أَوْحَىٰ﴾(۱۰) آیت سورة النجم)

نبی اکرم ﷺ د صریف الاقلام (۱) له تیریدلو او د پردو له پریکولو وروسته د الله ﷻ دربارته ورسیدی، ویل کیږی چی د نبی کریم ﷺ لپاره رفرف یعنی شین رنګه بخملی بستره راغله پر هغه بستره باندی کینستی اود دنی فتدلی فکان قاب قوسین او ادنی مقام ته ورسیدی

قال قاضی عیاض رحمة الله علیه فی الشفاء :قال ابن عباس هوای قوله تعالی دنی فتدلی مقدم ومؤخر فاصله فتدلی فدنا ای فتدلی الرفرف لمحمد(۲) صلی الله علیه وسلم لیلة المعراج فجلس علیه ثم رفع ودنا من ربه

ژباړه : قاضی عیاض وایې چی ابن عباس رضی الله عنه ویل چی د دنی فتدلی لفظ کې وروسته والی او مخته والی سته اصلی الفاظ داسی دی فتدلی فدنا او معنی یې داسی دی ، چی د محمد ﷺ دناستی لپاره د معراج په شپه یوه بستره رانښکته سوه نبی کریم ﷺ په هغې باندی کښینستی بیا تر داسی ځایه پورته سو چی خپل رب عزوجل ته نژدی ورسیدی .

فایده ، قاضی عیاض په شفاء کې ویلی دی چی په آیت شریف کې د الله ﷻ دنو او تدلی داسی دی لکه په احادیثو کی چی د الله ﷻ په آخر د شپی کې بلاتشبیه او مثال رانښکته کیدل یاد سوی دی ، فافهم ذلک واستقم ، نسیم الریاض جلد ۲ صفحه ۲۳۶)

وفی حدیث عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ : وفتح لی باب من ابواب السماء فرأیت النور الاعظم واذ دون الحجاب رفرف الدُّرّ والیاقوت واوحی الله الیٰ ماشاء ان یوحی (الحدیث) (۳)

ژباړه :ماته د اسمان یوه دروازه پرانستل سوه او ما یوه لویه رڼا ولیده او د پردې شاته می د ملغلر و یوه بستره ولیده او بیا چی الله تعالی له ماسره کومی خبری کول غوښتل هغه یې وکولی (۴)

---

(۱) حافظ عسقلانی په فتح الباری ۷ جلد باب المعراج صفحه ۱۶۹ کې لیکی (تکملة وقع فی غیرهذه الروایة زیادات رآها صلی الله علیه وسلم بعدسدرة المنتهی لم تذکر فی هذه الروایة منها ما تقدم فی الصلاة حتی ظهرت لمستوی اسمع فیه صریف الاقلام ۱۲ه له دې عبارت څخه په ډاګه معلومیږی چی صریف الاقلام تر سدرة المنتهی وروسته دی
علامه سفارینی فرمایې :لماوصل صلی الله علیه وسلم سدرة المنتهی غشیته سحابة فیها من کل لون فتاخر جبرئیل ثم عرج بالنبی صلی الله علیه وسلم فی وصل لمستوی سمع فیه صریف الاقلام فدنا من الحضرة الا لهیة حتی کان قاب قوسین او ادنی ای و اقرب بل اقرب من ذلک کذافی شرح العقیدة السفارینیة جلد ۲ صفحه ۲۷۱ ، له دې عبارت څخه هم داڅرګندیږی چی صریف الاقلام ځای تر سدرة المنتهی وروسته دی حافظ عسقلانی فرمایی قال القرطبی وقیل تدلی الرفرف لمحمد ﷺ حتی جلس علیه ثم دنا محمد ﷺ من ربه انتهی ، فتح الباری جلد ۳ صفحه ۴۰۳ کتاب التوحید ، زرقانی جلد ۶ صفحه ۹۷)

(۲) علامه شهاب خفاجی فرمایې : چی رفرف مطلق بستری ته وایې یاشنه بستره یاد وریښمو بستره دی، اویو شمیر نور بیا وایې چی رفرف اوزرابی مبثوثه ، یوشئ دی او دا لفظ په قرآن کریم کې هم راغلی دی ﴿مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ﴾۷۶ آیت سورة الرحمن) نسیم الریاض) اوزرقانی هم داسی وایې زرقانی جلد ۶ صفحه ۹۵

(۳) حافظ عسقلانی فرمایې وعندابن ابی حاتم وابن حاتم وابن عائذ من طریق یزیدبن ابی مالک عن انس رضی الله عنه ثم انطلق حتی انتهی بی الی شجرة فغشیتنی سرابة فیها من کل لون فنأ جبرئیل وخررت ساجداً ، فتح الباری جلد ۷ صفحه ۶۹) اوزرقانی فرمایې : وفی روایة فرأی ربه سبحانه فخر صلی الله علیه وسلم ساجداً (الحدیث زرقانی جلد ۶ صفحه ۱۰۳) نسیم الریاض جلد ۲ صفحه ۲۶۴)

(۴) الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۱۵۷)

سیف لودین کتابتون

(تنبیه) درفرف یادونه په صحیح احادیثونه دی ثابت خوپه ضعیف اومنکررو ایاتوکې ددې یادونه شته په دې وجه ودې ته بالکل صحی هم نه سی ویل کیدای ، والله اعلم (عفا الله عنه)
نبی کریم ﷺ چی کله دقرب و محترم ځای ته ورسیدی ، نو دالله ﷻ په دربارکی یې دشکر سجده وکړه ، فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۶۹، باب المعراج اودنور السموات والارض دالله ﷻ دښائست اوبیمثال اولویي پرده یې وروسته ولیده ، اوبی له واسطی دالله ﷻ په خبرواووحی مشرف سو ﴿فَأَوْحَىٰ إِلَىٰ عَبْدِهِ مَا أَوْحَىٰ﴾(۱۰) آیت سورة النجم
اخرج الطبرانی فی السنة والحکیم عن انس ﷺ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم رأیت النور الاعظم فأوحی الله الیّ ما شاء ان یوحی (درمنثور جلد ٦ صفحه ۱۲۳)
ژباړه : امام طبرانی اوحکیم ترمذی له انس ﷺ څخه روایت کړی دی وایې چی رسول الله ﷺ وفرمایل چی مالویه رڼا یعنی دالله ﷻ نور ولیدی بیا الله ﷻ ماته وحی وکړه هغه څه چی ده غوښتل یعنی له ماسره یې بلاواسطی خبری وکولی .
دابن عباس ﷺ په دې روایت سره ده دنا فتدلی او فاوحی الی عبده ما اوحی تفسیر هم کیږی ، چی په آیت کې دنوٰاوتدلی څخه دالله ﷻ داسی خاص اوپوره نژدیکت مراددی ، چی له هغه سره په ښیره باندی ښائست اوخوشالی هم وی اودفاوحی الی عبده مااوحی ، څخه بیله واسطی دخبرومعنی مراددی ، دبلاواسطی ملاقات وروسته دخبرویادونه مناسب دی . لنډه داچی نبی کریم ﷺ دالله ﷻ په ملاقات اودهغه په بلاواسطه خبرومشرف سو الله ﷻ خبری ورسره وکړی اوپنځه لمنځونه یې پرده اودده پرامت فرض کړل ،
دصحیح مسلم په حدیث کې راغلی دی ، چی الله ﷻ نبی کریم ﷺ ته په دغه وخت کې دری انعامونه ورکړل (۱) پنځه لمنځونه (۲) دسورة بقره دپای آیتونه چی په هغه کې پردی امت باندی دالله ﷻ دپوره مهربانی اورحمت اوآسانتیا اوبخښنی اودکافرانوپه مقابله کی دبریالیتوب اومرستی یادونه سته ، اوددې دعاوامت ته تعلیم اوتلقین ورکړل سوی اودې ته اشاره دی چی دسورة بقری په پای کې چی کومه دعاتاسوته درښودل سوی هغه له ماوغواړی زه به ستاسوټولی رواغوښتنی قبولی کړم

وَلَوْ لَمْ تُرِدْ نَيْلَ مَا نَرْجُوْ وَنَطْلُبُهُ ::::::: مِنْ فَيْضِ جُوْدِكَ مَا عَلَّمْتَنَا الطَّلَبَا

که ستااراده موږته دخپلی مهربانی څخه زموږمطلوب حاصلول نه وای نوموږته به دطلب اوغوښتنی زده کړه نه راکول کیده یعنی دغوښتنی لاربه نه راښودل کیده ،
(۳) نبی کریم ﷺ ته داجائزه ورکړل سوه چی دنبی کریم ﷺ په امت کې چی څوک له الله ﷻ سره شریک نه ونیسی الله ﷻ دهغه لوی ګناهونه بخښنی یعنی دکبیره ګناه کونکې به دکافرانوپه شان دتل لپاره په دوزخ کی نه وی بلکې یوڅه به دنبی کریم ﷺ په شفاعت سره بخښنل کیږی اوڅه به دملائکه وو په شفاعت سره اوڅه به دخپل خاص رحمت سره دچاپه زړه کی چی یوه زره ایمان وی آخر به هغه هم له دوزخ څخه راوزی

سیف لودین کتابتون

دابوهریرة ﷜ په یوه اوږده روایت کې راغلی دی چې الله ﷻ ونبی کریم ﷺ ته وفرمایل :
فقال له ربه قد اتخذتک خليلا وحبيباً وارسلتک الی الناس کافة وحبيباً بشيراً ونذيراً وشرحت لک صدرک ووضعت عنک وزرک ورفعت لک ذکرک فلا اذکر الاذکرت معی وجعلت امتک خيرا امة اخرجت للناس وجعلت امتک وسطاً وجعلت امتک هم الاولين والاخرين وجعلت من امتک اقواما قلوبهم اناجيلهم وجعلتک اول النبيين خلقاً واخرهم بعثاً واعطيتک سبعاً من المثانی لم اعطها نبيا قبلک واعطيتک خواتيم سورة البقرة من کنز تحت العرش لم اعطها نبيا قبلک واعطيتک الکوثر واعطيتک ثمانية اسهم الاسلام والهجرة والجهاد والصلاة والصدقة وصوم رمضان والامر بالمعروف والنهی عن المنکر وجعلتک فاتحا وخاتما .. الی اخر الحديث اخرجه ابن جرير فی تفسير سورة الاسراء عن ابن هريرة ﷜ بطوله کذافی خصائص الکبری (۱)

ژباړه : نبی کریم ﷺ ته خپل رب ﷻ وفرمایل ته ماخپل دوست وګرزولی اوټولو خلکو لپاره می زیري کونکی اوویرونکي لیږلی یې اوستاسینه می پرانیستله اوستاتکلیف می لیری کړی دی اوستایادونه می لوړه کړی زماله توحیدسره ستارسالت اوعبدیت هم یادیږي اوستاامت می خیرداموګرزولی اومیانه روه اوعادلانه امت می ګرزولی دی دعزت اومرتبې په لحاظ سره اول دی اودوجودپه لحاظ سره آخر دی اوستاپه امت کې می داسی خلک پیداکړی دی چې دهغوئ زړونه اوسینی به انجیل وی یعنی دالله ﷻ کلام به دهغوئ په سینواوزړوکې لیکل سوی وی اوته مود روحانی وجودپه اعتبارسره آخرالنبیین ګرزولی یې اوتاته موسورة فاتحه اودسورة بقره دپای آیتونه درکړی دی اوهغه ترعرش لاندی خزانی څخه دی او ترمامخکی مې یوه نبی ته هم نه دی ورکړی اوتاته می حوض کوثردرکړی دی اواته شیان می په ځانګړی ډول ستاامت ته درکړی دی ۱ اسلام اودمسلمان لقب ۲ هجرت ۳ جهاد ۴ لمونځ ۵ خیرات ۶ روژه ۷ امرپه ښوکارو او منع له بدوکارو ۸ ته موفاتح اوخاتم دانبیاء ګرزولی یې اول الانبیاء اوآخر الانبیاء موګرزولی یې
وقال السيوطی فی الاية الکبری فی شرح قصة الاسراء اخرجه الحکم وغيره ورجاله موثقون الا ان ابا جعفر الرازی وثقه بعضهم وضعفه بعضهم وقال ابوزُرعة يتهم وقال الحافظ ابن ثير الاظهر انه سيئ الحفظ (۱)

لنډه داچې الله ﷻ دقرب په ځای کې نبی کریم ﷺ ته رنګارنګ نعمتونه ورکړل اوډیرې ونازاوو اوپه رنګارنګ زیروباندی یې خوشاله کي اوخاص خاص احکام اولارښودنې یې ورته وکړی ترټولومهم حکم داوو چې نبی کریم ﷺ ته اودده امت ته دپنځوسو لمنځو حکم وسو نبی کریم ﷺ داټول احکام اولارښوونی واخیستل اوپه خوشالۍ اوترتازه سره ولاړی کله چې راتلی نوله حضرت ابراهیم ﷺ سره یې ملاقات وسو

(۱) الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۱۷۵

سیف لودین کتابتون

ابراهیم علیه السلام دهغه احکامواولاربنوونو اودلمنځوپه اړه هیڅ هم ونه ویل کمافی فتح الباری (٢) ترده وروسته نبی کریم ﷺ پرموسی علیه السلام تیرسو موسی علیه السلام پوښتنه ځنی وکړه چی تاته څه امر وسو ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل په شپه اوورځ کې دپنځوسولمنځوامرراته وسو،موسی علیه السلام ورته وویل چی ماپه بنی اسرائیلوښه ازموینښت کړی دی ستاامت ضعیف اوکمزوری دی هغوئ پنځوس لمنځونه نسی کولای له دې امله ته الله ﷻ ته بیرته ورسه اودخپل امت دپاره دآسانۍ غوښتنه وکوه . نبی کریم ﷺ بیرته ولاړی اوله الله ﷻ څخه دآسانی غوښته وکړه ، الله عزوجل پنځه لمنځونه ورکم کړل ، نبی کریم ﷺ بیرته راغلی موسی علیه السلام ورته هغه خبره بیاوکړه ، نبی کریم ﷺ بیاولاړی اودآسانۍ غوښتنه یې وکړه ډیر ځله یې دموسی علیه السلام په خبره اسانی وغوښته کله چی لمنځونه پنځوته راورسیدل موسی علیه السلام بیادامشوره ورکړه چی ولاړسه اوله الله ﷻ څخه داسانۍ غوښتنه وکه خو نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ماپه ډیروارغوښتنه وکړه اوس زه له الله ﷻ څخه شرمیږم ، نبی کریم ﷺ چی موسی علیه السلام ته داخبره وکه اوځنی روان سو نودغیب له لوری آواز ورته وسو ، چی داپنځه لمنځونه دی خودپنځوسولمنځو برابر ثواب لری اوزماپه خبره کې بدلون نسته زماپه علم کې هم دغه پنځه تعین سوی وو چی اصل فرض لمنځونه پنځه دی اودپنځوسو لمنځوبرابرثواب لری اوله پنځوسوڅخه پنځوته راکمیدل دمصلحت له مخی وو لکه طبیب چی دناروغ تداوی په ترتیب باندی کوی داپه حکمت اومصلحت باندی بناء وی اومریض په دې نه پوهیږی ځکه هغه تغیراوتبدیل ګڼی ، والله اعلم ،

په دې شکل سره له اسمانوڅخه راښکته سو اولومړی بیت المقدس باندی کښته سو اوله هغه ځایه بیاپربراق سپورسو اوترسهارکیدومخکې مکی مکرمی ته ورسیدی سهارچی کله نبی کریم ﷺ داواقعه دقریشوپه مخکې بیان کړه ، هغوئ ټول حیران سو چاله ډیره تعجب پرسرلاس کیښودی اوچالاسونه وټکول اوپه ډیرتعجب یې وویل چی په یوه شپه کې بیت المقدس ته تللی دی اوبیرته راغلی دی اوکوموخلکوچی بیت المقدس لیدلی وو هغوئ دازموینی په څیردبیت المقدس نښي ځنی وپوښتلی په همدې وخت کې الله ﷻ بیت المقدس دنبی کریم ﷺ سترګوته مخامخ کي قریشوپوښتنی کولی نبی کریم ﷺ بیت المقدس ته کتل اودهغوئ دپوښتنوځوابونه یې ورکول دومره پوښتنی یې وکولی چی هیڅ دپوښتنی ځای پاته نه سو نبی کریم ﷺ دټولوځوابونه ورکړل وروسته یې ورته وویل دلاری یوه پیښه راته بیان که ، نبی کریم ﷺ وفرمایل په لاره کې په فلانی

(١) زرقانی شرح مواهب جلد ٦ صفحه ١٠٣

(٢) قال الحافظ فی هذه الروایة من الزیادة فانصرفت سریعا فلم یقل شیئا ثم اتیت علی موسی فقال ماذاصنعت الخ ، فتح الباری جلد٧ صفحه٦٩

سیف لودین کتابتون

ځای کې ما یوه قافله ولیده چې له شام مکې ته را روانه ده ، له دوئ څخه یو اوښ هم ورک سوی وو خو وروسته پیدا سو اوهغه قافله به ان شاء الله تعالی په دروورځو کې را ورسیږی اوخرجن اوښ به ترټولو مخکې وی پرهغه به دوې ګونی- باروی کله چې دریمه ورځ هغه قافله مکې ته داخله سوه داوښ دور کیدو پیښه یې هم بیان که ، ولیدبن مغیره چې کله داخبره واوریده اووې لیده نووې ویل داجادودی قریشوویل ولید رښتیا وویل.

دلمرځای پرځای دریدلو معجزه ؛ (۱)

دبیهقی په یوروایت کې راغلی دی ، چې نبی کریم ﷺ دانبه وقریشوته وویله چې فلانی تجارتی قافله چې له شامه راروانه ده هغه به دچهارشنبی ماښام ته مکی ته رارسیږی کله چې دچهارشنبی ورځ سوه نوقافله نه راورسیده اولمرلویدوته نژدی سو نبی کریم ﷺ له الله ﷻ دعاوغوښته چې یاالله ﷻ لمردڅه وخت لپاره ځای پرځای ودروی ترڅو چې قافله راورسیږی دنبی کریم ﷺ په دعالمرځاي پرځای ودریدی اوقافله راورسیده (۲)

په نورو روایاتوکی راغلی دی چې قافله سهاروختی مکی ته راورسیدله کیدای سی چې دوې قافلې وی یوه سهاروختی رارسیدلی وی اوبله ماښام رسیدلی اوداهم کیدای سی چې یوه قافله وی څه خلک دقافلی په سهارکې رارسیدلی وی اوڅه دلمرلویدوپه وخت کې رارسیدلی وی دسیرة دعلماء په نزددامعجزه دحبس شمس یعنی دلمر بندیدلو په نامه یادیږی شیخ تقی الدین سبکی رحمة الله علیه فرمایې :

وَشَمْسُ الضُّحَى طَاعَتْكَ عِنْدَ مَغِيْبِهَا :::::::::::::::: فَمَا غَرَبَتْ بَلْ وَافَقَتْكَ بِوَقْفِهِ

الله ﷻ دخپل نبی کریم ﷺ رښتینوالی ښکاره کی اوقریشودهغه رښتینوالی په خپلو سترګوولیدی اوپه غوږوېې واوریدی مګر پرخپل تکذیب اودښمنی پاته سو دقریشوڅوتنه ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته راغلواوورته وې ویل چې ستادوست یعنی محمد مصطفی ﷺ وایې چې زه نن شپه بیت المقدس ته تللی وم اوترسهارکیدومخکې راغلم آیاته داخبره هم منی؟ابوبکرصدیق رضی الله عنه پوښتنه وکړه آیارسول الله ﷺ رښتیاهم داخبره کړې ؟خلکوورته وویل هوویلی دی. ابوبکرصدیق رضی الله عنه وویل که نبی کریم ﷺ دافرمایلی وی نوبالکل رښتیایې ویلی دی اوزه ددې تصدیق کوم اوزه خوتردې زیات دنبی کریم ﷺ په اسمانی خبروسهاراوماښام تصدیق کوم له همدغې ورځې دابوبکر رضی الله عنه لقب صدیق سو

باریکی اودپوهورازوپیژندنه اواحکام !

(۱) الله ﷻ داسراء بیان په سبحان الذی ، لفظ سره په دې وجه پیل کړدی چې څوک تنګ نظره اودتنګ خیال داممکن اومحال ونه ګڼی الله ﷻ دهررنګه ضعف اوعجز څخه پاک دی زموږ کمزوری عقلونه که څه هم یوشئ لیری اوناشونی ګڼی مګر دالله ﷻ قدرت اندازه نه لری اودده دخوښې مخ ته هیڅ شئ ګران نه دی ،

(۱) زرقانی جلد ۶ صفحه ۱۲۶) ——— (۲) الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۱۷۶)

سیف لودین کتابتون

اودې ته اشاره ده چې دمعراج پېښه معمولي پېښه نه دی بلکې يوه لويه معجزه دی اوله نبی کريم ﷺ څخه پرته هيڅاته نه ده ورکول سوی ، الله ﷻ په کامل قدرت سره په نبی کريم ﷺ باندی دوښتياپه حال کې په همدې بدن اوصورت سره اسمانوته وخيژوی، دټولو صحابه ﷺ اوتابعينواوسلف صالحينو همداعقيده دی چې نبی کريم ﷺ په همدې بدن مبارک سره دويښتياپه حال کې اسمانوته ولاړی يواځی له دوو يادرو صحابه ﷺ او تا بعينو څخه نقل سوی دی چې داسفرروحانی وو ياخوب وو مګر صحيح دادی چې داسراء اومعراج ټوله پېښه له سره ترپايه په ويښه وه په بدن مبارک سره په ويښه واقع سوی دی که څه خوب ياکشف وای نودمکی مشرکينوبه دومره مسخری نه پوری کولی اونه به يې دبيت المقدس نښي نښانی له نبی کريم ﷺ څخه پوښتلي دخوب دليدونکی څخه نه دنښو پوښتنه کيږی اونه په هغه پوری ټوک مسخری کوی دارنګه لفظ د (اسری) دخوب ياکشف دپاره نه استعماليږی بلکې دويښتيادحالت دپاره استعماليږی لکه دلوط ﷺ په قصه کې (قَالُوا يَا لُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ يَصِلُوا إِلَيْكَ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ) (سورة هود آيت ۸۱) اودموسی ﷺ په قصه کې (فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا إِنَّكُمْ مُتَّبَعُونَ (۲۳) سورة الدخان)

په دې دواړوقصوکې له اسراء څخه دشپی په وخت کې اودويښتياپه حالت کې تګ مراد دی اوبل داچې که دمعراج پېښه خوب وای نودنبی کريم ﷺ په معجزوکې به نه شميرل کيدله ځکه په خوب کې خويهودی اونصرانی هم داسمان اوجنت اوجهنم سفرکولای سی دارنګه زموږدنبی کريم ﷺغوره والی پرنوروانبياء عليهم السلام باندی په خاص ډول ددووخبروپه وجه دی په دنياکې معراج اوپه آخرت کې شفاعت اويواځي خوب دداسی لوړفضيلت سبب نه سی کيدای علماء فرمايې چې رسول الله ﷺ ته دغه دواړه فضيلتونه اودغه دواړه دولتونه دتواضع په وجه ورکړل سوی دی ځکه نبی کريم ﷺ دالله ډير متواضع بنده دی نو الله ﷻ دمعراج نعمت په بدل کې ورکي اوله ملخوق سره دښه چلندپه بدل کې الله ﷻ مقام محمود يعنی دشفاعت مقام ورکی .

(۲) الله جل وعلی شانه په دې ځای کې دنبی کريم ﷺ دعبديت شان يادکی اودنبوت او رسالت شان يې يادنه کړداسی يې وفرمايل (اسری بعبده) اواسری بنبيه ورسوله يې نه وفرمايل ځکه چې دسير الی الله دپاره دعبديت صفت مناسب دی چې بنده هرڅه پريږدی اوخپل بادارته ځی اودنبوت اورسالت معنی دالله ﷻ له لوری بندګانوته راليږل دی په دې وجه دنبوت اورسالت صفت يادول په هغه ځای کې مناسب دی چيری انبياء عليهم السلام دالله عزوجل له لوری بندګانوته راليږلوبيان وی لکه چې الله ﷻ فرمايې:

إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَى فِرْعَوْنَ رَسُولًا (۱۵) سورة المزمل)

سیف لودین کتابتون

الله ﷻ دسورة المزمل په دې تیرآیت کې داسی ونه فرمایل چی (انا ارسلنا الیکم عبدنا ،ځکه دلته دنیاته دنبی ﷺ درالیږلو بیان دی دنیاپرېښودل او ځان ته دبلنې بیان نه دی .
لنډه دا چی په معراج کې سیر الی الله دی دالله ﷻ لوری ته دتلو بیان دی ځکه یې دعبد لفظ وفرمایل اودرسول اونبی لفظ یې ونه فرمایل،اوبل داچی دعبدلفظ په دې وجه غوره سو چی هسی نه چی یوشمیرناپوهان لکه نصاری نبی کریم ﷺ آسمان ته دختلو په وجه خدای ونه ګڼي ، امام رازی دخپل پلار څخه نقل کړی وایې چی ماله ابوالقاسم سلیمان انصاری ﷺ څخه اوریدلی دی چی دمعراج په شپه الله تعالی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی ستا ترټولوصفاتواوالقابوکوم لقب اوکوم صفت ډیر خوښ دی نبی کریم ﷺ وفرمایل دعبدیت صفت ستابنده کیدل ماته ترټولوصفاتومحبوب دی ، په دې وجه چی کله داسورة نازل سو نوپه همدغه غوره سوی صفت سره ونازول سو .
(۳)داسراء معنی که څه هم دشپی تګ دی مګر دلیلاً تصریح په دې وجه وسوه چی لیلاً لفظ نکره دی نکره پرلږوالی دلالت کوی ، یعنی الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره دشپی په لږبرخه کې په نبی کریم ﷺ دځمکی اواسمان سیلوکړ، اودشپې په وخت کې وسوځکه شپه عادةً دیواځی والی اوخلوت وخت دی په داسی وخت کې له چاسره لیدنه دنژدیکت اوخاص والی دلیل دی له همدې امله دقیام اللیل اوتهجد فضلیت په قرآن کریم او احادیثوکې په خاص ډول سره یادسوی دی :
يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ (١) قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا (٢) إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا (٦)سورة المزمل { وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَكَ عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا [الإسراء :۷۹] كَانُوا قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ [الذاریات ۱۷ــ۱۸] وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا (۶۴)سورة الفرقان)
اودغه رنګه په قرآن کریم کې دنبی کریم ﷺ لقب سراج منیر راغلی دی سراج منیر یعنی روښانه ډیوه اوډیوه دشپې لپاره مناسب وی .

قلت یاسدی فلم توثر :::::::::::: اللیل علی بهجه النهار

ماورته وویل اې زمامحبوبه ته دخپل مزل لپاره دورځې په مقابل کې شپه ولی خوښوی او په شپه کې مزل کوی اوپه ورځ کې نه وزی

قال لا استطیع تغیر رسی :::::::::: هکذا الرسم فی طلوع البدور

محبوب په ځواب کې راته وویل زه خپل عادت نه سم بدلولای دسپوږمۍ عادت دادی چی دشپې مزل کوی .
(۴)له مسجدحرام څخه ومسجداقصی ته په تلوکې داحکمت دی چی دمسجدحرام اومسجداقصی دواړو قبلو انوار اوبرکات اودبنی اسرائیلو دانبیاء علیهم السلام فضائل اوکمالات په نبی کریم ﷺ کې رایوځای سی اودې ته هم اشاره دی چی نژدی دی

سیف لودین کتابتون

چې دنبي اسرائیلو قبله به دبنو اسماعیلو په واک کې راځي او محمد مصطفی ﷺ به د دواړو قبلو یعنې بیت الله او مسجد اقصی انوار او برکات حاصل کي،
او دانبیاء اورسولانو او دملائکه علیهم السلام په نبي کریم ﷺ پسې اقتدا کول دنبي کریم ﷺ دسرداری او دانبیاء علیهم السلام دامام کیدو دښکاره کولو لپاره وو چې دالله عزوجل نژدې خلک په خپلو سترګو دنبي کریم ﷺ سرداري او امامت ووینې.
مسئله: انبیاء او ملائکه علیهم السلام دنبي کریم ﷺ په اقتداء لمونځ وکي او ښکاره خبره دی چې ټوله چوپ وو دنبي کریم ﷺ قرائت یې اوریدی هیچا دهغه له شا قرائت نه دی لوستی او نه ثابت سوی دی او دقرآن کریم حق هم دادی چې باید په پټه خوله واوریدل سی لکه چې الله ﷻ فرمایې: { وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (۲۰٤) سورة الاعراف
په لعلکم ترحمون کې درحمت ژمنه له هغه چا سره سوی چې په امام پسې قرائت نه وایې په امام پسې دقرائت لوستونکو سره درحمت ژمنه نه دی سوی ځکه اما م ابوحنیفه رحمة الله علیه دقرائت خلف الامام قائل نه دی.
(۵) انبیاء علیهم السلام چې په مسجد اقصی کې په نبي کریم ﷺ پسې لمونځ وکي هغه نفلي لمونځ وو یوشمیر نور بیا وایې چې فرض لمونځ وو هغه لمونځ چې ترمعراج مخکې پرنبي کریم ﷺ باندې فرض سوی وو، والله اعلم (۱)
صحي خبره دادی چې هغه لمونځ نفلي وځکه له روایاتو داثابته سوی چې نبي کریم ﷺ معراج ته دماخستن اوسهار په مینځ کې ولاړی نبي کریم ﷺ دماخستن لمونځ وکی دارام لپاره پربسرته پریوتی جبرئیل علیه السلام براق راوستی اودسهار ترلمانځه مخکې مکې ته له اسمانو څخه بیرته راستون سو دسهار لمونځ یې په مکه کې اداکی (کمافی فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۵۱)
له دې احادیثو داسې څرګندیږي چې په بیت المقدس کې لمونځ چې نبي کریم ﷺ ملائکه او انبیاء علیهم السلام ته ورکړ نفلي لمونځ وو فرضي نه وو. والله اعلم
(۶) دجبرئیل علیه السلام ددروازې پرځای دخونې بام پرانیستی اوراښکته سو ودې ته اشاره وه چې دغه شان به دنبي کریم ﷺ سینه پرانیستل کیږي او بیرته به ژر دپخوا په څیر جوړیږي.
(۷) ایمان او حکمت که څه هم په دنیا کې له معناګانو او عارضي شیانو څخه دی مګر په آخرت کې له معانی او عراض څخه اجسام جوړیږي لکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي چې دقیامت په ورځ به سورة بقره او سورة آل عمران ده دوو ۲وریځو په شکل کې ښکاره کیږي او په خپلو ویونکو به سایه کوي، او مرګ به دپسه په شکل کې راوستل سي او داسې نور دتفصیل لپاره زرقاني ته مراجعه وکي (۲)

(۱) زرقاني جلد ۶ صفحه ۴۵)
(۲) زرقاني جلد ۶ صفحه ۲۸ تر ۳۰ پوري)

سیف لودین کتابتون

(۸) دسینې دڅیرلو رازونه او حکمتونه د کتاب په سر کې تیرسوی دی هلته دې و کتل سی
(۹) په اسمانو کې نبی کریم ﷺ له څو خاصو انبیاء علیهم السلام سره ولیدل اشاره وراتلونکو حالاتو ته وه چې پرنبی کریم ﷺ باند ی وروسته په هسته هسته راغله، لکه علماء چې دخوب په تعبیر کې وایې چې کوم سړی چې په خوب کې نبی ﷺ ووني دهغه تعبیر دادی چې دهغه په شان حالات به ده ته پیښ سی په اول اسمان کې له آدم ﷺ سره ولیدل ځکه آدم ﷺ اول الانبیاء دی په دې وجه ترټولو لومړی له هغه سره ملاقات وسوا و دادم ﷺ په لیدنه کې وهجرت هم اشاره وه یعنی لکه څنګه چې آدم ﷺ دیو دښمن له لاسه له اسمان او جنت و ځمکې ته هجرت وکی دغه رقم به نبی کریم ﷺ هم له مکې څخه مدینې منورې ته هجرت کوی او آدم ﷺ په څیر به هغه له ګران وطن څخه بیلیږي اوله وطن بیلیدل طبعاً ګرا ن وی او په دویم آسمان کې له عیسی ﷺ او یحیی ﷺ سره لیدنه وسوه په حدیث کې راغلی دی :(انا اقرب الناس بعیسی ابن مریم لیس بینی وبینه نبی) زه په ټولو انبیاء علیهم السلام کې زه وعیسی ﷺ ته ډیر نژدی یم زما او دهغه په مینځ کې بل هیڅ نبی نشته .
درانګه عیسی ﷺ به په آخرزه زمانه کې ددجال دپاره له اسمانه راکښته کیږي او په امت محمدیه کې به نوی شریعت محمدیه جاری کوی او دقیامت په ورځ به عیسی ﷺ له ټولو انبیاء علیهم السلام سره دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضریږي او دشفاعت کبری غوښتنه به کوی ځکه له عیسی ﷺ سره په دویم اسمان کې لیدنه وسوه او دیحی ﷺ دملګرتیا وجه یوازې نبوی قرابت وو ځکه عیسی ﷺ او یحی ﷺ دواړه نبوی وروڼه دی په دې ملاقات سره دیهودو وتکلیفو او ضرر رسولو ته هم اشاره وسوه چې یهود به نبی کریم ﷺ آزاروی او دهغه دقتل لپاره به پلانونه جوړوی مګر لکه څنګه چې الله تعالی عیسی ﷺ دیهودو له شره وساتی دغه شان به الله تعالی نبی کریم ﷺ هم دهغوئ له شره وساتی
او په دریم اسمان کې یې له یوسف ﷺ سره لیدنه وسوه په دې لیدنه کې ودې ته اشاره دی چې دیوسف ﷺ په څیر به نبی کریم ﷺ هم دخپلو وروڼو تکلیف وړی او په پای کې به هم دی غالبه کیږي او هغوئ ته به ښنه کوی کله چې دمکې فتح وسوه نو نبی کریم ﷺ قریشو ته داسې وینا وکړه لکه یوسف ﷺ چې خپلو وروڼو ته ویلی وو نبی کریم ﷺ وفرمایل :
(قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ (۹۲) سورة یوسف)
اذهبوا انتم الطلقاء ای العتقاء (۱) نن ورځ پرتاسو هیڅ ملامتیا نسته الله ﷻ دې تاسو وبخښی هغه ارحم الراحمین ذات دی.. ځی ولاړسی تاسو ازادیاست ،
امت محمدیه چې کله جنت ته داخلیږي نو دیوسف ﷺ په شکل به ښائسته وی.

(۱) فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۶۳)

سیف لودین کتابتون

اودادریس علیه السلام په ملاقات کې ودې ته اشاره وه چې نبی کریم ﷺ به پاچهانو ته داسلام بلن لیکونه لیږی ځکه دلیک لیکلو لومړی ایجادونکي ادریس علیه السلام دی دارنګه د ادریس علیه السلام په اړه الله عزوجل فرمایې وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقاً نَّبِياً (٥٦) وَرَفَعْنَاهُ مَكَاناً عَلِياً (٥٧) آیت سورة مریم) نودادریس علیه السلام په ملاقات کې ودې ته اشاره وه چې نبی کریم ﷺ ته به هم الله عزوجل لویه مرتبه اولوړوالی ورکوی کله چې نبی کریم ﷺ دروم پاچاته لیک ولیږی نودروم پاچادیر وویریدی لکه چې په صحیح بخاری کې دابوسفیان قول داسی راغلی دی :

امر امر ابن ابی کبشة حتی یخافه ملک بنی الاصفر

اودهارون علیه السلام په ملاقات ودې ته اشاره وه چې لکه څنګه چې سامری اوسخوندرکی عبادت کونکودهاورن علیه السلام په لاربښوونه عمل ونه کی نودهغوئ پای دمرتد کیدو په جرم وژل سو لکه دبدرپه جنګ کې چې دقریشواویا ۷۰ مشران ووژل سو اواویا ۷۰ یې اسیران سو اودعرنیین دمرتد کیدو په وجه دوئ ووژل سو اودموسی علیه السلام په ملاقات کې دې ته اشاره وه چې لکه څنګه چې موسی علیه السلام په شام کې له جبارینوسره جهادلپاره ولاړی اوالله جل جلاله هغه ته فتح اوبری ورکړ دغه رنګه به نبی کریم ﷺ هم شام ته دجهادلپاره ځي لکه چې نبی کریم ﷺ شام ته دتبوک غزا لپاره تشریف یوړوی اوددومة الجندل رئیس جزیه قبوله که اودسولی غوښتنه یې وکړه نبی کریم ﷺ دهغه دسولی غوښتنه ومنله اولکه څنګه چې دشام ملک دموسی علیه السلام څخه وروسته دیوشع علیه السلام په لاس باندی فتح سو دغه شان دنبی کریم ﷺ له وفات وروسته ټول شام دعمرفاروق رضی الله عنه په لاس فتح سو اوداسلام په ولکه کې راغلی ،، اوپه اووم اسمان کې له ابراهیم علیه السلام سره ملاقات وسونبی کریم ﷺ ابراهیم علیه السلام ولیدی چې بیت المعمورته تکیه لګولی ده او ناست دی بیت المعمورپه اووم اسمان کې یومسجد دی چې دکعبې پر برابر پروت دی اویازره ۷۰زره ملائکه وی هره ورځ دهغه طواف کوی ابراهیم علیه السلام دکعبی جوړونکی دی ځکه هغه ته دامقام ورکړل سو په دې آخری ملاقات کې حجة الوداع ته اشاره وه چې نبی کریم ﷺ به دوفات کیدو مخکی دبیت الله شریف حج کوی اوعلماء وایې څوک چې په خوب کې ابراهیم علیه السلام ووینی دهغه تعبیر دحج زیری دی دا اسرار اوحکمتونه دفتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۶۲ اوروض الانف صفحه ۱۵۰ اوزر قانی شرح مواهب جلد ۶ صفحه ٦۷ تر ۷۲ پوری له دې اخیستل سوی دی علماء حضرات دی هلته رجوع وکوی ،

ابن منیرلیکي چې تردې ځایه اووه معراج وسو اتم معراج سدرة المنتهی دی په هغه کې دمکی وفتح ته اشاره وه چې په کال ۷ هجری کې وسوه اونهم معراج له سدرة المنتهی وروسته صریف الاقلام دی، په هغه کې دتبوک وغزا ته اشاره وه چې په کال ۹ هجری کې پیښنه سوه ، اولسم معراج رفرف دالله جل جلاله دقرب مقام دی هغه ځای چې له الله جل جلاله سره

سیف لودين كتابتون

ملاقات وسو او دالله ﷻ خبرې واوریدل سوی په لسم معراج کې دالله ﷻ تل پاته والی ته اشاره وه ځکه دهجرت په لسم کال به نبی کریم ﷺ وفات کیږی اوپه هغه کال به له الله ﷻ سره یوځای کیږی اودنیاکوربه پرېږدی اوله رفیق اعلی سره به یوځای کیږی ،کذافی رسالة الحافظ اليسوطي فی قصة الاسراء صفحه ۴۵ رساله (۱۰))

په حدیث شریف کې راغلی دی چی الله عزوجل پر ځمکه باندی دانبیاء علیهم السلام بدنونه حرام کړی دی ځمکه ددوئ بدنونه نه سی خوړلای په دې وجه دانبیاء علیهم السلام د مبارکو بدنو اصل ځای ددوئ قبرونه دی اونبی کریم ﷺ له انبیاء علیهم السلام سره په بیت المقدس او اسمانو کې ملاقات وسو له دې څخه یاخو ددوئ روحونه مراددی یاروح سره له بدن لیدل مراددی دوئ دنبی کریم ﷺ دعزت اوشرافت په وجه له خاورین بدن سره مسجداقصی اواسمانوته راوبلل سو (وماذلک علی الله بعزیز)

اویوشمیرنورعلماء بیاوایې چی بدن خوپه قبرکې وی الله تعالی ددوئ ارواح دبدنوپه شکل جوړکړل اودنبی کریم ﷺ دملاقات لپاره یې په بیت المقدس کې رایوځای کړل.

یواځی عیسی علیه السلام په اسمانوکې په اصلی بدن سره ولیدل سو ځکه هغه په همدی بدن سره ژوندی آسمان ته پورته سوی دی (۱)

په دغه شپه کې پرنبی کریم ﷺ اودهغه پرامت باندی پنځوس لمنځونه فرض سو، نبی کریم ﷺ سمعناواطعنا وویل اوبیرته راغلی په لاره کې له ابراهیم علیه السلام سره ملاقات وسو مگر ابراهیم علیه السلام هیڅ نه وویل ، له هغه وروسته په موسی علیه السلام تیرسو هغه دآسانتیا مشوره ورکړه ، دابراهیم علیه السلام دڅه نه ویلووجه داوه چی داځای دنیاز اودوستی رضاء او منلوځای دی نوځکه یې څه ونه ویل اودموسی علیه السلام دآسانتیا مشوره ورکه خلیل الله چوپ پاته سو اوکلیم الله خبری وکړی (۲) دموسی علیه السلام دمشوری پربنیادرسول الله ﷺ په واروارداسانی غوښتنه وکړه کله چی لمنځونه پنځوته راښکته سو نونبی کریم ﷺ وفرمایل ،دنوری اسانی په غوښتلوزه له الله ﷻ شرمیږم ځکه نبی کریم ﷺ تردې مخکی نه ځله داسانی غوښتنه وکړه اوپه هرځل پنځه لمنځونه کمیدل نوداځل که هم داسانۍ غوښتنه وکوی نوددې غوښتنی مطلب به داوی چی داپنځه هم رامعاف که اوهیڅ فرض لمونځ به نه سی پاته په دې وجه نبی کریم ﷺ وشرمیدی اودبیرته تلوڅخه یې انکاروکې ،

(۱۳) داسمانو ختلوڅخه مخکې دنبی کریم ﷺ سینه مبارکه وڅیرل سوه اودزمزم په اوبوپریولل سوه اودایمان اوحکمت څخه ډکه وګنډل سوه ، ددې دپاره چی ددې نادر اونالیدلی پاکۍ وروسته دښوعباداتو دفرض کیدوحکم وکړل سی .

---

(۱) فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۶۲) ـــــــ (۲) زرقانی جلد ۲ صفحه ۷۲ـ۷۳)

سيف لودين كتابتون

(۱۴) داسمانوپه سفرکې رسول الله ﷺ ملائکه وې په مختلفوعباداتوبوختې ولیدې یو شمیر دولاړې په حال کې لاس تړلې ولاړې وې اوبعض بیاپه رکوع دې هیڅ کله سرنه راپورته کوې،اونوربیا دتل دپاره سره په سجده دې ، اوبعض بیا په ناسته دالله ﷻ عبادت کوې الله ﷻ ددې امت دپاره هغه ټول ارکان په یوه رکعت کې رایوځای کړه ددې دپاره چې دامت عبادت دټولو ملائکه ودعبادتو مجموعه اوخلاصه سې (۱)

دغه رنګه په قرآن کریم کې راغلې دې چې هرشئ په هروخت کې دالله ﷻ پاکې بیانوې او ستاینه یې کوې لکه چې الله ﷻ فرمایې :

وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا (۴۴) سورة الاسراء)

دکائناتوهیڅ وخت دالله دپاکۍ بیانولوڅخه خالي نه تیرېږي اوداخبره ثابته سوې چې دکائناتوپاکې بیانول یوشان نه دې ، بلکې په مختلفوطریقوسره وې ، دونواو بوټو تسبیح تل دولاړې په حالت کې وې اودڅارپایانو تسبیح تل درکوع په حالت کې وې اوددڅمکې دخزندوتسبیح تل دسجدې په حالت کې وې هروخت دهغوئ تندې له ځمکې سره لګیږي اودکاڼو اوجماداتوتسبیح تل دناستې په حالت کې وې الله ﷻ زموږ په لمانځه کې دحمداوتسبیح ټول اقسام اوانواع رایوځای کړه .

دارنګه انسان دڅلورعناصروڅخه جوړدې په دې وجه عبادت هم دولاړې ،ناستې،رکوع اوسجدې له دې څلوروارکانوڅخه جوړدې اولکه څنګه چې دالله ﷻ څخه دنافرمانې اسباب پنځه دې یعنې حواس خمسه ځکه په یوه ورځ کې پنځه لمنځونه فرض سو

(۱۵) دعلماء په دې کې اختلاف دې چې رسول الله ﷺ دمعراج په شپه دالله ﷻ په ملاقات مشرف سو یانه اوکه یې لیدلې وې نودالیدنه په سترګووه اوکه په زړه وه په سترګویې لیدلې دې یادزړه په سترګویې لیدلې دې ، اوداخبره یادساتۍ چې دزړه په سترګولیدل بیل دې اوپوهیدل بیل دې دجمهورو صحابه کرام ؓ اوتابعینو دامذهب دې چې نبې کریم ﷺ الله ﷻ دسرپه سترګولیدلې دې اودمحققینوپه نظر همدا قول راجح اوحق دې ځکه په احادیثوکې ښکاره راغلې چې کله له نبې کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چې آیاتا رب عزوجل لیدلې دې نونبې کریم ﷺ وفرمایل هو مادمعراج په شپه خپل پالونکې ولیدې .

اخرج احمد بسند صحیح عن ابن عباس ؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم رأیت ربی عز وجل (۲)

واخرج الطبرانی فی السنة والحکیم عن انس ؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم رأیت النور الاعظم فاوحی الله الیّ ما شاء ..

---

(۱) فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۶۸)

(۲) الخصائص الکبری جلد ۱ صفحه ۱۶۱)

سیف لودین کتابتون

ژباړه : په مسند احمد کې په صحيح روايت سره نقل سوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې ما الله جل جلاله وليدی ، امام طبرانی او حکيم ترمذی له انس رضی الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې ما نور رڼا وليده يعنی نور الهی می وليدی بيا الله جل جلاله ماته وحی وکړه کومه چې يې غوښتله يعنی له ماسره يې پرته له واسطې خبری وکړی .

دابن عباس رضی الله عنه له يو مرفوع روايت (۱) څخه ثابتيږی چې دمعراج په شپه نبی کريم ﷺ په سترګو اوزړه دواړو وليدی الله تعالی په خپل پوره قدرت سره دسترګو رڼا دزړه په رڼا داسی ګډه کړه چې دنبی کريم ﷺ دسترګو اوزړه په ديد کې هيڅ توپير پاته نه سو (۲)

کلام سرمدی بی نقل بشنید .... خداوند جهان رابی جهت دید

دران ديدن که حيرت حاصلش بود.............. دلش در چشم و چشمش در دلش بود

حضرت نظامی رحمه الله می فرمايد

کلاميکه بی آله آمد شنيد..................لقائی که آن ديدنی بود ديد

چنانچه ديد کز حضرت ذوالجلال..................نه زانسو جهت بود نه زين سو خيال

عارف جامی رحمه می فرمايد

بديد آنچه از ديدن بيرون بود.................. مپرس ازماز کيفيت که چون بود

نه چراګنجد آنجاونه چون.................. فرد بند از کمی لب وز فزون

شنيد آنګه کلامی نه بآواز.................. معانی در معانی راز باراز

نه آګاهی ازو کلام وزبان را .... نه همراهی ازو نطق وبيان را

حافظ توربشتی رحمة الله عليه په المعتمد فی المعتقد کې ليکی چې دزړه له ليدلو يواځی علم او معرفت نه دی مراد ځکه دامعرفت خو رسول الله ﷺ ته مخکې حاصل وو بلکې مراد دادی چې الله جل جلاله درسول الله ﷺ په زړه کې داسی دليدلو داسی توان پيدا کړ لکه سترګی چې ليدل کوی او يادامراد دی چې دزړه دسترګو په مرسته اودزړه دسترګو په ملګرتيا او يوځای والی سره دالله جل جلاله په ليدلو مشرف سو .

دملاقات په وخت کې زړه دسترګو ملګری وو اوسترګی دزړه ملګری وی يو دبل څخه بيل نه وو (انتهی کلامه موضحاً والله اعلم وعلمه اتم)

(۱) هغه روايت دادی : اخرج ابن جرير عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ رأيت ربی عزوجل باحسن صورة الی ان قال ماکذب الفؤاد مارأی فجعل نوربصری فی فؤادی فنظرت اليه بفؤادی انتهی ،درمنثور جلد ۶ صفحه ۱۲۴

(۲) تفسير درمنثور جلد ۶ صفحه ۱۲۳)

ياداشت :دکتاب ليکونکي اوژباړونکی حمدالله زابلی سيوری جوګيانی ستاسو ددعا ډير محتاج درنو لوستونکو کله چې داکتاب مطالعه کوی نوماعاجز اوګنهګار بنده ته دزړه له کومی يوه دعا کوئ الله عزوجل دې ښه بدله درکړی .آمين)

سیف لودین کتابتون

دیدنانو او آزاد خیالو سوالونه او زموږ ځوابونه !

بې دینانو د رسول الله ﷺ پر جسماني معراج باندې چې کوم سوالونه کړي دي د هغه ټولو لنډه یادونه دا دی چې په پخواني حکمت او فلسفه کې خوایې چې په اسمانو کې څیرول او نرمي نه منې او نوی ساینس بیا د اسمانو وجود نه منی له دې وجې چې کله د اسمان وجود ثابت نه سو نو د جسماني معراج ثبوت به څنګه وي ، دارنګه نوی ساینس او زوړ ساینس دواړه پردې خبره یو دي چې تر ځمکه پورته کره زمهریره دی او زړه فلسفه وایې چې داور کره دی او له دې دواړو ځایو څخه دانسان روغ رمټ تیریدل نه سی کیدای نو ځکه معراج جسماني نه سی کیدای بعض بیا وایې چې د درانه جسم دومره لوړوالی او په او دومره تیزی مزل کول عقلاً محال او ناممکن دی ؟

ځواب: دا ټولي وسوسې او وهمونه دي ، عقلاً په دې کې هیڅ شئ هم محال نه دی (قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (۶۴ آیت سورة النمل) څوک چې ددې شئ د محال کیدو دعوه لري هغه دې دلیل وړاندې کې .

(۱) ټول انبیاء علیہم السلام او ټول اسماني کتابونه پردې یوه خوله دي چې قیامت به راځي او آسمان به ټوټه ټوټه کیږي (إِذَا السَّمَاءُ انشَقَّتْ (۱) آیت سورة الانشقاق) او د ټولو انبیاء علیهم السلام او رسولانو د محال امر پر واقع کیدو باندې اتفاق کیدل بیخي ناممکن او محال کار دی او مخکني فلسفه چې د اسمانو د نه څیرلو او نرمۍ کوم دلائل وړاندې کړي دي متکلیمنو د هغوئ پوره ځوابونه کړي دي

(۲) او د نوی ساینس د اسمانو د نه وجود منل نو د اسمانو د نه شتون دلیل نه سی کیدای د ټولو پوهانو پردې خبره اتفاق دی چې دیو شئ په سترګو نه لیدل یا د دې نه ثابتیدل د دې شی د نه شتون دلیل نه سی کیدای که داسې وي نو د ځمکې او اسمان د هغه زرها و شیانو نه منل لازمیږي هغه چې موږ نه دي لیدلی له عقل او علم څخه پټ دي او بل دا چې پوهان پردې باندې یوه خوله دي چې د چا نه پوهیدل د شئ د نه شتون دلیل نه دی .

(۳) نن صبا نوی نوی آلات راوتلی دي او د هغه په ذریعه سره بدن د ګرمۍ او سړوالی له اثر څخه بیخي خوندي کیږي او د الله ﷻ قدرت خو تر دې ډیر لوړ دی (ماللتراب ورب الارباب) د خاورو څه نسبت دی د اسمانو له پیدا کونکي سره ، په حکومتي باغو کې داسې وني شته چې د اوبو پر ځای تر هغه ونه لاندې اور بشکاره کیږي هغه وني د اور په ګرمۍ شنې کیږي که د اور ګرمي لږ سی نو وچیږي په دریاب کې داسې چنجي شته چې په اور کې د ننه پیدا کیږي هغه نه په اور سوځي او نه په اور مړ کیږي بلکې کله چې هغه له اوره راووزي سمدستي مړ کیږي او د هغه لپاره ژوند دی ..

سيف لودين كتابتون

اودغه رنګ موږدسرپه سترګووينوچې په زرهاوو منه وزن داره الوتکی داسمان په فضاکې الوزی اوپه ساعتوساعتو په زرهاوومیله مزل کوی تهوله دنیایې وینی . اودیوه انسان په الوتلوکې ولی دومره سرګردانه اوحیران یاست ..

(۵) اوس داسی نوی زینه پیداسوی (لفټ ورته وایې) چی دبریښنا په یوه بټن وهلوسره په یوه دقیقه کې سلم منزل ته سړی لوړ خیژوی آیا الله ﷻ دداسی زینی پیداکولو څخه عاجزه دی چی په یوه دقیقه کې خپل یوخاص بنده له ځمکی څخه اسمان ته ورسوی

(۶) دپوهانوددې معلوماتوله رابرسیره کیدو داسی معلومیږی چی دساینس له لاری چی تراوسه کومی څیړنی سوی دی هغه ډیرلږدی اوپه راتلونکی کې چی دکومو پر مختګوامیددی هغه تراوس په زرهاو درجوزیات دی ، تردی چی دا خبرداری هم راغلی دی چی په نژدی وخت کې به موږستورو اوسیارو ته ورسیږو ،خوافسوس دادی چی زموږ متمدن وروڼه هغه چی دغربی علومو لیونیان دی هغوئ داخبرونه په ډیره خوشالۍ سره اوری اویوه اوبل ته یې نقل کوی مګر کله چی دنبی اُمی ﷺ فداه ابی وامی دمعراج خبره وسی نوهغوئ رنګارنګ شکونه اووسوسی مخ ته ایږدی داروپا (۱) وحی بیله چون اوچرا منی اودالله ﷻ په وحی کې شکونه راباسی (العیاذبالله)

(۷) دیهودو په نزد انبیاء علیهم السلام په بدن سره ژوندی اسمان ته تلل اودعیسایانو په نزد دعیسی علیه السلام ژوندی اسمان ته ختل اوبیاپه آخره زمانه کې له اسمانه راکښته کیدل منل سوی دی ، دغه شان درسول الله ﷺ په مبارک بدن سره اسمان ته ختل اوبیابیرته راتلل په قرآن اوحدیث اواجماع دصحابه ﷺ اوتابعینو سره ثابت دی که اسمان ته ختل عقلاً محال وای نوصحابه اوتابعین به هیڅ کله په دې باندی نه اتفاق کیدل .

دحج په وخت کې داسلام بلنه :

کله چی نبی کریم ﷺ ولیدل چی قریش پرخپله دښمنی باندی ټینګ ولاړی دی نو کله چی به دحج وخت راغلی اودشاوخواسیموخلک به راتلل ، نونبی کریم ﷺ به په خپله ددوئ ځای ته ورتلی اوداسلام بلنه به یې ورکوله اودحق دین دمرستی اوساتنی لپاره به یې بلنه ورکوله ، نبی کریم ﷺ خوبه خلک توحید رښتیا اخلاص ته رابلل خودهغه آکا ابولهب چی دهغه اصلی نوم عبدالعزی وو هغه به بیاټول کارونه پریښودل اودنبی کریم ﷺ له شابه روان وو اوویل به یې اې خلکو ګوري داسړی له تاسوڅخه دلات اوعزی پریښودل غواړی اوبدعت اوګمراهی ته مو بیایې هیڅ کله دده خبره ونه منی ، لنډه داچی نبی کریم ﷺ به پر مختلفو قبیلو باندی اسلام پیش کوی اوهغوئ ته یې داسلام دمرستی اوساتنی

---

(۱) وهذا كما قال الله تبارك وتعالى ﴿ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ ﴾ [الأنعام : ۱۲۱]

سيف لودين كتابتون

بلنه ورکړه چاپه نرمۍ ځواب ورکی اوچاپه سختی ځواب ورکی یو شمیر خلکو ورته وویل چی موږ په دې شرط ستامرسته کوکه ته بریالی سوی نوموږ به ترځان وروسته خیلفه گرزوی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل : دازماپه واک کې نسته دالله ﷻ خوښه دی څوک چی غواړی هغه خلیفه کوی ،دوئ ورته ویل دانه سی کیدای چی موږستاسره خپل سرونه وبایلو اوخپلی سنیی دقریشو دغشو لپاره سپر جوړی کړو اوکله چی ته بریالی سی نوبل څوک ستاخلیفه اوځای ناستی سی (۱)

نبی کریم ﷺ دبنو هذل بن شیبان قبیلی ته ورغلی ابوبکرصدیق رضی الله عنه اوعلی رضی الله عنه هم ورسره ملگری وو مفروق بن عمرو اوهانی بن قبیصه ددې قبیلی مشران وو ابوبکرصدیق رضی الله عنه مفروق ته ویل آیاتاسو ته درسول الله ﷺ دنبوت اورسالت خبر رسیدلی دی ؟ مفروق وویل هو موږ ته دده یادونه سوی، ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورته وویل همدا زماملگری رسول الله ﷺ دی،مفروق وویل اې قریشی ورورہ ته دڅه شی بلنه ورکوی ؟ نبی کریم ﷺ راوړاندی سو وې فرمایل ، الله عزوجل یودی شریک نه لری اوزه دهغه رالیږل سوی استازی یم داومنه ، اودالله ﷻ ددین ساتنه وکړه ، قریشو دالله ﷻ دحکم له منولو مخ واړوی اودهغه رسول یې دروغجن وگڼی اودباطل په لارکې له حق بی پرواسو (والله هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْد) الله ﷻ ترټولو ډیر بی پرواذات دی یعنی الله ﷻ ته خویوه ذره ضرورت نسته چی ته دهغه دین ومنی بلکې ستاضرورت دی دالله ﷻ ددین دساتنی اومرستی لپاره ودریږه ، هوکه تاسوته دخپلی کامیابی فکروی نوحق اوهدایت قبول کړه اودباطل اوگمراهی څخه توبه وکاږه ؟

مفروق وویل بل څه شئ ته بلنه ورکوی ؟ نبی کریم ﷺ داآیتونه ورته تلاوت کړه :

قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ مِنْ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (۱۵۱) سورة الانعام)

ژباړه : ته ودوئ ته ووایه چی راشی چی زه تاسو ته هغه شیان ولولم کوم چی ستاسو رب عزوجل پرتاسو باندی حرام کړی دی ، هغه دادی چی دالله ﷻ سره هیڅوک شریک نه کی ، اودمور اوپلار سره نیکی کوی ، اواولاد دغریبی په وجه مه وژنی موږتاسو اودوئ ته هم روزی درکوو،اودبیحـ ـایي خواته مه ورځی بیحیایې که ښکاره وی اوکه پټه ، اودچاوینه ناحقه مه تویوی الله ﷻ وینه تویول حرام کړی دی مگر په حق سره ددې خبرو الله تعالی تاسو ته په ټینگار سره حکم کوی ددې دپاره چی تاسو پوه سی .

---

(۱) سیرت ابن هشام جلد ۱ صفحه ۱٤۸)

سیف لودین کتابتون

مفروق وویل قسم په الله دا خبري خود ځمکی دخلکو نه دی ، اې قریشي وروره بل څه شئ ته بلنه ورکوی ؟ نبی کریم ﷺ دا آیتونه ورته ولوستل :

{ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (۹۰) سورة النحل }

بیشکه الله ﷻ تاسو ته دانصاف اونیکۍ اوله خپلوانوسره دښه سلوک حکم کوی اوله هری بی حیایي اوبدوخبرو اوظلم څخه تاسو منع کوی ددې دپاره چی نصحیت قبول کی مفروق وویل : والله ته خودیر غوره اخلاقو اوښو کاروته بلنه ورکوی مگر زمامجبوری داده چی زه دخپل قوم څخه پوښتنه کوم دهغوئ په غیاب کې له تاسره هیڅ ژمنه نه کوم ځکه زه نه پوهیږم چی زماقوم به زمادا ژمنه ومنی اوکه بی نه ومنی ، اوبل داوجه دی چی موږ دکسری ترلاس لاندی یو له کسری سره موږ تړون کړی دی چی هرنوی کاربه موږ ستا له خبرولوپرته نه کوو زماغالب گمان دی چی که موږ له تاسره عهدوکوو نودکسری به خامخادانه خوښوی ،دنبی کریم ﷺ دمفروق رښتیا ویل خوښ سو، اونبی کریم ﷺ وفرمایل چی الله ﷻ دخپل دین په خپله مرستندوئ اوساتونکي دی اوکوم خلک چی دالله ﷻ دین مرسته کوی نژدی ده چی الله تعالی به دوئ دکسری (۱) دځمکی اوخزانومالکان کي ، تردی وروسته نبی کریم ﷺ دابوبکرصدیق ؓ لاس ونیوی اوله مجلس ولاړسو ، داوس اوخزرج قبیلی کوم خلک چی له مدینی منوری څخه راغلی وو دهغوئ مجلس ته ورغلی ، ددې بیان به ژرستاسومخ ته راشی ان شاء الله هغه خلکواسلام قبول کی اوددین دنصرت اوساتنی وعده یې وکړه (۲) حافظ عسقلانی فرمایې : اخرجه الحاکم وابونعیم والبیهقی باسناد حسن عن ابن عباس ؓ قال حدثنی علی بن ابی طالب ، (الحدیث فتح الباری جلد۷ صفحه ۱۷۱ باب وفود الانصار الی النبی صلی الله علیه وسلم بمکة وبیعة العقبة)

تنبیه :

حافظ ابونعیم اصبهانی رحمة الله علیه لیکي :چی زه په دې نه یم خبر چی مفروق اسلام راوړی که نه (۳)

---

(۱) ټولی نړۍ دسرپه سترگوصحابه کرام ؓ ولیدل چی دالله ﷻ په مرسته په ډیرژرځوکې دقیصراوکسری پرخزانوواکمن سو.

(۲) روض الانف جلد۱ صفحه ۴۱۴، البدایه والنهایه جلد۳ صفحه ۴۳)

(۳) اسدالغابة جلد ۴ صفحه ۴۰۹)

کاتب :ستاسو ددُعامحتاج ابوحمزه المهاجرحمدالله. زابلی ،سیوری . کلی جوگیان.

سیف لودین کتابتون

دایاس بن معاذ رضی الله عنهُ اسلام راوړل !

په همدې کال ابو الحیسر انس بن رافع دځوځوانانو په ملګری په دې نیت مکی ته راغلی وو چی دخزرج په مقابل کې دقریشو له یو تېرسره تړون وکوی په دغو ځوانانو کې ایاس بن معاذ ﷺ هم وو رسول الله ﷺ ودوئ ته تشریف وروړی او ورته وې ویل دکومی موخی لپاره چی تاسو راغلی یاست زه به ترهغه ډیرشئ تاسو ته وراند ی کم ؟ ابو الحیسر اودده ملګروویل هغه لکه څه شئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : زه دالله ﷻ رالیږل سوی استازی یم الله ﷻ زه ددې دپاره رالیږلی یم چی بندګان الله ﷻ ته راوبولم یو اځي دالله ﷻ بندګی وکوی اوهیڅوک مه شریک کوی اوالله ﷻ پرمابانذی یو کتاب نازل کړی دی ، وروسته یې څوآیتونه ورته تلاوت کړه اوداسلام بلنه یې ورکړه ،

ایاس بن معاذ ﷺ وویل اې زماقوم قسم په الله ﷻ دکوم مقصدلپاره چی موږ راغلی یو دا ترهغه ډیرغوره اوښه دی ، ابو الحیسر کاڼي راپورته کی اوایاس یې پرمخ په وویشتی او ورته وې ویل موږخوددې کارلپاره نه یو راغلی ، ایاس ﷺ نورڅه ونه ویل اورسول الله ﷺ له مجلس څخه ولاړسو کله چی دوئ مدینی ته ورسیدل څو ورځی لانه وی تیری سوی چی آیاس ﷺ وفات سو ، دمړینی په وخت کې یې لااله الاالله ، او الله اکبر اوسبحان الله او الحمدلله داکلمی پرژبه جاری وی ، چی هلته ناستوخلکو اوریدی ټول خلک په دې باور وو چی ایاس ﷺ مسلمان مړسو (۱)حافظ هیسمی رحمة الله علیه فرمایې : ددې خبری روایت احمد اوطبرانی کړی اوراویان یې هم ثقه دی (۲)

په مدینه منوره کې داسلام پیل وسودنبوت ۱۱ کال !

په مدینه منوره کې ډیره آبادی داوس اوخزرج وه اودوئ مشرکین اوبت پرست وو اوله دوئ سره یوځای یهودهم اوسیدل هغه چی اهل کتاب وو ددوئ علماءهم په مدینه منوره کې اوسیدل یهودډیرلږ وو ځکه به کله چی دیهودوله اوس اوخزرج سره څه جګړه رامنځ ته سوه نو یهودو به ویل اوس په نژدی وخت کې نبی آخرزمان پیداکیږی ، موږبه دهغه پیروی کو اوله هغه سره به ملګری سو اوتاسوبه دعاد اوثمود قوم په څیرتباه اوبربادسی کله چی دحج موسم راغلی نودخزرج قبیلې څه خلک مکی ته راغلودادنبوت یولسم کال وو ،نبی کریم ﷺ له دوئ سره ملاقات وکی اوداسلام بلنه یې ورکړه اوپردوئ باندی یې قرآن پاک تلاوت کی ، دې خلکو نبی کریم ﷺ وپیژندی اوپه خپل مینځ کې یوبل ته وویل قسم په الله ﷻ داهغه نبی دی چی یهودو به یادوی ، ګوری هسی نه چی په دې فضیلت اونیک بختی کې یهود ترموږ مخکې سی اودمجلس ختمیدو مخکې یې اسلام ومنی

(۱) البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۱۴۸ ، الاصابه جلد۱ صفحه ۹۱)

(۲) مجمع الزوائد جلد ۶ صفحه ۳۶۰)

سیف لودین کتابتون

اونبی کریم ﷺ ته یې وویل ، یارسول الله ﷺ موږ خوپرتاباندی ایمان راوړی دیهودو سره زموږ ډیروخت جګړی راځی که ته اجازه راته وکوی چی موږ هغوئ ته هم داسلام بلنه ورکړو که هغوئ هم دابلنه ومنله نوپه دې صورت کې که موږ اودوئ سره یوځای سو نوترتابه زیات عزتمند څوک نه وی ،

دالومړنی مسلمانان دخزرج قبیلی څو تنه وو چی ددوئ نمونه په لاندې ډول دی :

(۱) اسعدبن زرارة ﷺ (۲) عوف بن الحارث ﷺ (۳) رافع بن مالک بن عجلان ﷺ (۴) قطبة بن عامر ﷺ (۵) عقبة بن عامر ﷺ (۶) جابر بن عبد الله بن رئاب ﷺ (۱)

اودسیرت یوشمیر علماء دجابر ﷺ پرځای دعبادة بن الصامت نوم یادکړی دی (۲) فتح الباری باب وفود الانصار الی النبی صلی الله علیه وسلم بمکة وبیعة العقبة (۳)

داشپږکسان دنبی کریم ﷺ څخه رخصت سو اومدینی منوری ته ولاړل په کوم مجلس کې چی به کښیناستل نودنبی کریم ﷺ یادونه به یې ضرور کوله ، خبره دې ته ورسیده چی دمدینی هیڅ یوکور اوهیڅ یومجلس دنبی کریم ﷺ دیادونی خالی نه سوپاته ،

دانصارو لومړنی بیعت کال ۱۲ نبوی !

کله چی دویم کال هغه صحابه کرام ﷺ راغله نودنبوت دوولسم کال وو دوئ دوولس تنه دنبی کریم ﷺ دملاقات لپاره مکی ته راغلوپنځه خودهغه شپږومخکې کسانو څخه وو اواووه نور نوی راغلی وو چی دهغوئ نومونه په لاندی ډول دی :

(۱) اسعدبن زرارة ﷺ (۲) عوف بن الحارث ﷺ (۳) رافع بن مالک ﷺ (۴) قطبة بن عامر ﷺ (۵) عقبة بن عامر ﷺ په دویم کال جابر بن عبد الله بن رباب ﷺ نه وو راغلی ..

(۶) معاذ بن الحارث ﷺ یعنی دعوف بن الحارث ﷺ ورور (۷) ذکوان بن عبد قیس ﷺ [۴] (۸) عبادة بن الصامت ﷺ (۹) یزیدبن ثعلبه ﷺ (۱۰) عباس بن عباده بن نضله ﷺ (۱۱) ابوالهیثم مالک بن تیهان ﷺ (۱۲) عویم بن ساعدة ﷺ

دادوولس تنه دشپې په مِنَی کې عقبه ته نژدی درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضر سو او له رسول الله ﷺ سره یې په لاس په دې الفاظ بیعت وکی ، موږ به له الله ﷻ سره هیڅوک نه شریک کوو، اونه به غلاکوو، اونه به زناکوو، اونه به خپل اولادوژنو، اونه پرچابدوایو اونه به په چاپوری تور تړو ..

---

(۱) داهغه مشهورجابربن عبد الله بن حرام ﷺ نه دی (زرقانی جلد ۱ صفحه ۳۱۱)

(۲) ابن هشام جلد ۱ صفحه ۱۵۰)

(۳) البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۱۴۸)

(۴) ذکوان ﷺ تربیعت وروسته په مکه کې پاته سو وروسته یې ومدینی منوری ته هجرت وکړپه دې وجه ذکوان ﷺ مهاجر هم دی اوانصاری هم دی ، زرقانی جلد ۱ صفحه ۳۱۳ عیون الاثر)

سیف لودین کتابتون

دادانصارولومړني بيعت وو ودې ته بيعت عقبه اولى وايې دوئ چې كله بيعت وكى او مدينى منورى ته بيرته ولاړل نوله دوئ سره عبدالله بن ام مكتوم ﵁ او مصعب بن عمير ﵁ هم دقرآن اوداحكامودزدكړى لپاره مدينى ته ولاړه دوئ داسعدبن زرا ة ﵁ په كوركې اوسيدل.
مصعب بن عمير ﵁ به خلك اسلام ته رابلل اودمدينى منورى مسلمانانوته به يې لمونځ وركوي ددوئ امام وو ، يوه ورځ مصعب بن عمير ﵁ خلكوته دعوت وركوى ډيرخلك راټول سوى وو، اسيدبن حضير ﵁ چى كله خبرسو نوتوره يې راواخيسته او راغلى و مصعب بن عمير ﵁ ته يې وويل ته دلته دڅه لپاره راغلى يې زموږ كوچنيان اوښځى بيلارى كوى ښه به داوى چى ته له دې ځايه ولاړسى ، ؟ مصعب بن عمير ﵁ ورته وويل آياداكيداى سى چى ته دلږوخت لپاره كښيني اوڅه چى زه وايم هغه واورى كه دې خوښ سو نوويې منه اوكه نه نوځان به ځنى وساتى ،اسيدبن حضير ﵁ وويل داخودى ډيره دانصاف خبره وكړه اسيد هم په مجلس كې كينستى ، مصعب بن عمير ﵁ داسلام ښيګڼى اوښه صفتونه ورته بيان كړه اودقرآن كريم تلاوت يې وكى ، اسيد ﵁ چى واوريدى وې ويل (مااحسن هذاالكلام) داڅومره ښائسته خبرى دى اوڅومره ښې خبرى دى اوپوښتنه يې وكړه چى په دې دين كې دداخليدوطريقه څنګه وى ؟
مصعب ﵁ ورته وويل اول خپل بدن پاك كه اوبياجامى پاكى كه غسل وكوه اوبياد شهادت كلمه ووايه لمونځ اداكه ، اسيد ﵁ هم سمدستى ولاړسو جامى يې پاكى كى اوغسل يې وكى اودشهادت كلمه يې ولوسته اودوه ركعته لمونځ يې وكى وروسته يې وويل چى يوبل سړى هم سته كه هغه مسلمان سو نوبيابه داوس قبيلى يوسړى هم پربل دين نه پاته كيږى زه اوس ځم هغه تاته راليږم هغه سړى سعدبن معاذ ﵁ وو اسيد ﵁ ولاړى سعدبن معاذ ﵁ ته ورغلى كله چى هغه له ليرى وليدى نووې ويل چى اسيدهغه اسيدنه دى چى مخكې تللى وو داخوپربل مخ معلوميږى ، كله چى اسيد ﵁ نږدى ورنږد ى سو نوسعد ﵁ واسيد ﵁ ته وويل ، مافَعَلتَ تاڅه وكړل ، اسيد ﵁ وويل مادهغه په خبروكې هيڅ عيب پيدانه كى ، سعدبن معاذ ﵁ په غصه سو اوتوره يې راواخيسته په خپله ورغلى اسعدبن زرارة ﵁ ته يې وويل كه زماله تاسره خپلوى نه واى اوته زما د ترور زوى نه واى نواوس به مى په توره سره ددواړوكار ختم كړى ووتا دقوم دبيلارى لپاره مصعب ﵁ دلته راوستلى دى ، مصعب ﵁ وويل ، چى اې سعد ﵁ د نه سى كيداى چى ته لږګړى كښيني اوزماخبره واورى كه دې خوښې سوى وبى منى اوكه نه ستاخپله خوښه چى څه كوى هغه وكوه ، سعد ﵁ وويل تادانصاف خبره وكه كينستى ، مصعب ﵁ داسلام ښيګڼى بيان كړى اودقرآن تلاوت يې وكى ددې په اوريدوسره دسعد ﵁ رنګ بدل سو پوښتنه يې وكړه چې په دې دين كې دداخليدو لپاره څه شرط شته؟ مصعب ﵁ ورته وويل

سیف لودین کتابتون

اول بدن اوجامې پاکې کړه غسل وکوه اوبيادشهادت کلمه ووايه اودوه رکعته لمونځ وکړه سعد ﷺ هم سمدستي ولاړسو غسل يې وکی اوجامې يې پاکې کې اودشهادت کلمه يې وويله اودوه رکعته لمونځ يې وکی اوله مجلس ولاړی کله چې خپلوخلکوته ورسيدی دوئ چې سعد ﷺ وليدی نوليری يې يوه بل ته وويل چې رنګ يې بدل دی کيدای سی داهغه سعد ﷺ نه وی په کوم مخ چې تللی وو ، کله چې خپلوخپلوانوته را ورسيدی نوسمدستي يې دمجلس ناستوخلکوته وويل چې تاسو ته زه څنګه ښکاريږم ټولوپه يوه خوله ورته وويل چې ته زموږ مشراوسردار يې اودښه رايه اومشهوری په اعتبارترموږ ټول غوره اوپوه يې ، سعد ﷺ وويل : قسم په الله ﷻ ترهغو به زه له تاسوسره خبره هم نه وکوم ترڅوچې تاسوټولوپرالله ﷻ اودهغه پررسول ﷺ باندی ايمان نه وی راوړی ، ترماښام مخکې دبنی عبدالاشهل قبيله ټوله په اسلام مشرف سو ه اويونارينه اوښځه پاته نه سو چې اسلام يې نه وی راوړی (۱)

له بنی عبدالاشهل څخه يوائې يوسړی دعمروبن ثابت په نامه چې دهغه لقب اُصَيرِم وو اسلام ونه مني ، داحددجنګ په ورځ يې اسلام راوړی اوداسلام له راوړلو سره سم دجهاد لپاره دجنګ ځای ته ورسيدی اوپه همدغه ورځ شهيدسو ، رسول الله ﷺ دهغه دجنتي کيدو زيری ورکی ابوهريرة ﷺ به دمعمی په ډول ويل چې هغه کوم سړی دی چې يو لمونځ يې هم نه دی کړی اوجنت ته داخل سو ؟کله چې به خلکوځواب ورنه کی نوده به په ويل چې هغه دبنی عبدالاشهل په قبيله کې اُصَيرِم دی (رواه البيهقي باسناد حسن مطولا عن ابي هريرة ﷺ)(۲)

درفاعه رضی الله عنهُ اسلام راوړل !

رفاعه بن رافع ذاتی ﷺ وايې چې دشپږ انصارو تررا تلو مخکې زه اوزمادترور زوی معاذ بن عفراء مکی ته راغلو اودنبی کريم ﷺ سره مو ملاقات وسو هغه اسلام راته وړاندی کی اوداسی يې وفرمايل :اې رفاعه ﷺ داراته ووايه اسمان ځمکه اوغرونه چاپيداکړی دی ؟ ماوويل الله ﷻ نبی کريم ﷺ وفرمايل نوبياخوتاسوددې وړياست چې بتان ستاسو عبادت وکوی ځکه بتان تاسوجوړکړی دی اوتاسوالله ﷻ پيداکړی ياست خوزه تاسو ديوه خدای ﷻ وعبادت ته رابولم تاسوالله ﷻ يووګڼی اويوائې دهغه عبادت اوبندګی وکوی ظلم اوتيری پرېږدی ماورته وويل چې رښتياهم ته لويوکاروا وپاکو خويو ته بلنه ورکوی زه له نبی کريم ﷺ سره ولاړسوم اوحرم ته ولاړم اوداعلان می وکی (اشهدان لااله الاالله وان محمداً رسول الله)زه شاهدی ورکوم چې له الله ﷻ پرته بل څوک دعبادت اوبندګی لائق نسته اومحمد ﷺ رښتينی نبی اورسول ﷺ دی (اخرجه الحاكم وخصائص کبری جلد۱ صفحه ۱۸۲)

---

(۱) عيون الاثر جلد۱ صفحه ۱۵۸ ، ابن هشام ،طبری ، البدايه والنهايه) ـــــــــ (۲) زرقانی جلد۱ صفحه ۳۱۶)

سیف لودین کتابتون

په مدينه منوره کې دجُمعي مبارکي لومړئ لمونځ !

په همدې کال اسعدبن زراره رضی الله عنه په مدينه منوره کې جُمُعه قائمه کړه صحابه کرام رضی الله عنهم وليدل چې ديهود اونصاراو ديوځاى والى يوه ورځ په اونى کې شته ديهودخاصه ورځ شنبه يادخالى ورځ وه اودنصاراوو ديوځاى والى ورځ په اونى کې يک شنبه وه ځکه له مسلمانانوسره هم دافکرپيدااسو چې بايدپه اوونى کې يوه ورځ معلومه کړو اوپه هغه ورځ ټول سره يوځاى سو اودالله ﷻ ذکر اوشکر اداکړو اولمونځ وکوو اودالله ﷻ عبادت اوبندګى وکوو،اسعدبن زراره رضی الله عنه دجمعى ورځ معلومه کړه اوپه دې ورځ يې ټولو انصاروصحابه رضی الله عنهم ته لمونځ ورکى (رواه عبدبن حميد باسنادصحيح عن ابن سيرين)

لنډه داچې صحابه رضی الله عنهم ووپه خپل اجتهاد سره جمعه قائمه که اودويم يې دجمعى ورځ په جمعه ونوموله ځکه مخکې داورځ په يوم عروبه سره يادېدله ، ديوم عروبه پرځاى يې جمعه نوم پرکيښودى د الله ﷻ له لورى وحى نازله سوه اوددواړو تائيدېې وکى اوددوئ دتائيدپه اړه دا آيت نازل سو :{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ } [الجمعة: ۹آيت]

په دې آيت سره دجمعه فرضيت هم معلوم سو اوداهم معلومه سوه چې دالله تعالى دجمعه لفظ خوښ دى ، الله عزوجل ديوم عروبه پرځاى يوم الجمعه وفرمايل اويوم عروبه چې په جاهليت کې مشهورودهغه لفظ منعه يې وکړه اوانصاروچې کوم لفظ ټاکلى وو دهغه تائيد وسو په دې آيت سره دانصارودااجتهادُ تائيداوغوره والى بيان سواوله دې ځخه څو ورځې وروسته رسول الله ﷺ يوليک ومدينى منورى ته ولېږى په هغه کې دجمعى د قائمولوپه اړه ومصعب بن عمير رضی الله عنه ته ليکلى و چې دنيمايې ورځې وروسته ټول پريوه ځاى دالله ﷻ په کورکې يوځاى کيږى اودوه رکعته لمونځ کوى اوپه دې سره الله ﷻ ته نژديکت حاصل کى ،(رواه الدارقطنى عن ابن عباس رضی الله عنه هذاکله من الزرقانى جلد۱صفحه ۳۱۵)

عبدالرحمن بن کعب مالک رضی الله عنه وايې چې زماپلار کعب بن مالک رضی الله عنه چې به کله دجمعى دلمانځه اذان واوريدى نوداسعدبن زراره رضی الله عنه لپاره به يې دبخښنى دعاکوله ، مايوه ورځ پوښتنه ځنى وکړه ، ده راته وويل چې په مدينه منوره کې ترټولومخکې اسعدبن زراره رضی الله عنه موږته دجمعى لمونځ راکړى دى (رواه ابوداؤد والحاکم ، اصابه ترجمه سعدبن زراره رضی الله عنه (۱)

فايده ؛ علامه سهيلى رحمة الله عليه ليکي چې په اسلام کې ترټولومخکې اسعدبن زراره رضی الله عنه دجمعى لمونځ کړى دى اوپه جاهليت کې ترټولومخکې کعب بن لوى چې دنبى کريم ﷺ لوړنيکه دى جمعه قائمه کړى لکه چې دنسب په سلسله کې بيان تيرسو (۲)

---

(۱)الاصابه جلد۱صفحه ۳۴) (۲) روض الانف جلد۱صفحه ۲۶۹)

سیف لودین کتابتون

دانصارو ﷺ دويم بيعت کال ۱۲ نبوی !

کله چې دویم کال راغلی دنبوت دیارلسم کال وو نومصعب بن عمیر ؓ دمسلمانانوله یوې ډلی سره دحج د اداء کولوپه نیت مکی مکرمی ته روان سو له مسلمانانوسره یوځای داوس اوخزرج څه مشرکین هم ووهغوتردې وخت اسلام نه وومنلی دوئ دحج دپاره روان سوددوئ شمیرترڅلورسوه زیات وو دمشهورقول په بناء دمسلمانانوشمیر پنځه اویا ۷۵ اوپه دوئ کې درې اویا ۷۳ نارینه اودوې ښځي هم وی دوئ ټولو درسول کریم ﷺ په لاس مبارک په هغه غونډۍ کې بیعت وکړ چې تیرکال یې بیعت ورسره کړی و اوودې بیعت ته عقبه ثانیه وایې، علامه ابن جوزی رحمه الله دبیعت کونکوصحابه کرام ؓ نوموته یادکړی دی هغه ترپنځه اویا ۷۵ زیات دی او په لاندی ډول دی :

(۱) اسعدبن زراره ؓ (۲) اسیدبن حضیر ؓ دحسان بن ثابت ؓ وررور (۳) ابی بن کعب ؓ (۴) اوس بن یزید ؓ (۵) اوس بن یزید ؓ (۶) براء بن معرور ؓ (۷) بشربن براء بن معرور ؓ (۸) بشربن سعد ؓ (۹) بشربن الهیثم ؓ (۱۰) ثابت بن الجزع ؓ (۱۱) ثعلبة بن عدی ؓ (۱۲) ثعلبة بن غنمة ؓ (۱۳) جابربن عبدالله بن عمروبن حرام ؓ (۱۴) جابربن صخر ؓ (۱۵) حارث بن قیس ؓ (۱۶) خالدبن زید ؓ (۱۷) خالدبن عمرو بن ابی کعب ؓ (۱۸) خالدبن عمرو بن عدی ؓ فی قول الواقدی وحده (۱۹) خالدبن قیس ؓ فی قول ابن اسحاق والواقدی ولم یذکره ابو معشروابن عقبه (۲۰) خارجة بن زید ؓ (۲۱) خدیج بن سلامة ؓ (۲۲) خلادبن سویدبن ثعلبه ؓ (۲۳) ذکوان بن عبد قیس ؓ (۲۴) رافع بن مالک ؓ (۲۵) رفاعة بن رافع بن مالک ؓ (۲۶) رفاعة بن عبدالمنذر ؓ (۲۷) رفاعةبن عمرو ؓ (۲۸) زیادبن لبید ؓ (۲۹) زیدبن سهل ابو طلحه ؓ (۳۰) سعدبن زیدبن مالک الاشهلی ؓ فی روایة الواقدی وحده (۳۱) سعدبن خیثمة ؓ (۳۲) سعدبن الربیع ؓ (۳۳) سعدبن عبادة ؓ (۳۴) سلمة بن سلامة بن وقش ؓ (۳۵) سلیم بن عمرو ؓ (۳۶) سنان بن صیفی ؓ (۳۷) سهل بن عتیک ؓ (۳۸) شمربن سعد ؓ (۳۹) صیفی بن سواد ؓ (۴۰) ضحاک بن زید ؓ (۴۱) ضحاک بن حارث ؓ (۴۲) طفیل بن نعمان ؓ (۴۳) ظهیربن رافع ؓ (۴۴) عبادة بن الصامت ؓ (۴۵) عبادبن قیس ؓ (۴۶) عبدالله بن انیس ؓ (۴۷) عباس بن نضله ؓ (۴۸) عبدالله بن ربیع ؓ (۴۹) عبدالله بن رواحه ؓ (۵۰) عبدالله بن زیدصاحب الاذان ؓ (۵۱) عبدالله بن عمروبن حرام ؓ (۵۲) عبس بن عامر ؓ (۵۳) عبیدبن التیهان ؓ یعنی دابوالهیثم بن التیهان ؓ وررور (۵۴) عقبة بن عمرو ؓ (۵۵) عقبة بن عامر ؓ (۵۶) عقبة بن وهب ؓ (۵۷) عبادة بن حزم ؓ (۵۸) عمرو بن حارث ؓ (۵۹) عمرو غزیة ؓ (۶۰) عمرو بن عمیر ؓ (۶۱) عمیربن الحارث ؓ (۶۲) عوف بن حارث ؓ (۶۳) عویم بن ساعده ؓ

سیف لودین کتابتون

(۶۴) فروة بن عمرو رضی الله عنه (۶۵) قتادة بن النعمان رضی الله عنه (۶۶) قطبة بن عامر رضی الله عنه (۶۷) قیس بن عامر رضی الله عنه (۶۸) قیس بن ابی صعصعه رضی الله عنه (۶۹) کعب بن مالک رضی الله عنه (۷۰) مالک بن تیهان ابو الهیثم رضی الله عنه (۷۱) مالک بن عبدالله بن جعشم رضی الله عنه (۷۲) مسعود بن یزید رضی الله عنه (۷۳) معاذ بن جبل رضی الله عنه (۷۴) معاذ بن الحارث رضی الله عنه یعرف بِامه عفراء (۷۵) معاذ بن عمرو بن الجموح رضی الله عنه (۷۶) معقل بن المنذر رضی الله عنه (۷۷) معن بن عدی رضی الله عنه (۷۸) معوذ بن الحارث رضی الله عنه (۷۹) منذر بن عمرو رضی الله عنه (۸۰) نعمان بن حارثه رضی الله عنه (۸۱) نعمان بن عمرو رضی الله عنه (۸۲) هانئ بن نیار ابو برده رضی الله عنه (۸۳) یزید بن ثعلبه رضی الله عنه (۸۴) یزید بن خذام رضی الله عنه (۸۵) یزید بن عامر رضی الله عنه (۸۶) یزید بن المنذر رضی الله عنه (۸۷) نسیبة بنت کعب رضی الله عنها (۸۸) اسماء بنت عمرو رضی الله عنها..

داټوله نمونه موږ دعلامه ابن جوزی دکتاب تلقیح صفحه ۲۱۵ څخه نقل کړی دی ، علامه ابن هشام په سیرت ابن هشام کې اوحافظ ابن سید الناس په عیون الاثر کې تقریبا همدغه نومونه یاد کړی دی یوائې داتو یالسو په نمونو کې توپیر راغلی دی ،

په مسند احمد کې له جابر رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چی لس کاله پرلپسی به رسول کریم ﷺ دخلکو کوروا وبازاروا ومیلوته ورتلی اودا اسلام بلنه یې ورکوله اودابه یې ورته ویل (من یؤوینی ومن ینصرنی حتی ابلغ رسالة ربی وله الجنة) څوک به ماته ځای راکی اوڅوک به زما مرسته وکوی ددې دپاره چی زه دالله جل جلاله پیغام ورسوم اودهغه په بدل کې جنت دی ، مګر هیچانه ځای ورکی اونه یې مرسته ورسره وکړه موږ له یثرب راغلو اودنبی کریم ﷺ تصدیق مووکی اوهغه ته موځای ورکی په موږ کې چی به څوک ونبی کریم ﷺ ته ورغلی هغه به اسلام قبولوی اوهغه به مسلمان کورته راستنیدی کله چی دمدینی هر کورته اسلام ورسیدی نوموږ مشهوره وکړه چی ترڅوپوری به موږ دالله جل جلاله رسول ﷺ په دې حال کې پریږدو هغه دمکی په غروکې سرګردانه اوپریشانه ګرزی پیر همدې مهال زموږ اویاتنه له یثرب څخه مکی ته دحج لپاره راغلو ، الی اخرالحدیث حافظ ابن کثیر فرمایي هذا اسناد جید علی شرط مسلم ، البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۱۵۹)

کله چی قافله مکی ته ورسیده نومسلمانو په پټه ورسول کریم ﷺ ته پیغام ولیږی چی موږ ستاد پښو مچ کولو دپاره راغلی یو رسول الله ﷺ دآیام تشریق په وخت کې دمنی په هغه مبارکه غونډۍ کې دشپی دملاقات وعده وکړه په کوم ځای کې چی تیرکال دوولس مدنیان په بیعت مشرف سوی و رسول کریم ﷺ تشریف راوړی اودنبی کریم ﷺ اکاعباس رضی الله عنه هم ورسره ملګری وو که څه هم هغه تردغه وخت نه وومسلمان سوی مګر درسول کریم ﷺ کومک اوساتنه یې کوله کله چی دوئ دواړه کیناستل نوعباس رضی الله عنه وانصاروته مخ ور واړوی ورته وې ویل چی محمد ﷺ په خپل قوم کې ډیر دعزت اولوړی مرتبی څښتن دی

سیف لودین کتابتون

قريش كه څه هم دده ددين مخالف دى مګر ډيرپه درناوى اوښه سترګه ورته ګورى اوموږ دده ساتندويان اومرسته كونكي يو خومحمد ﷺ غواړى چې تاسوته درسى نوكه تاسودده بشپړه ساتنه اومرسته كولاى سى اودمرګ تروخت پورى پردې باندى ټينګ پاته كيږى نوښه دى اوكه داسى نه وى نواوس ښكاره ځواب راكړى ؟

انصاروؓ وويل تاچې كومه خبره وكړه هغه موږ واوريدله دوئ دررسول كريم ﷺ خواته مخ واړوى ورته وې ويل يارسول الله ﷺ ته چې له زموږ څه غواړى موږ دهغه لپاره تيارېو ته چې څه دخپل ځان لپاره غواړى اودالله ﷻ دپاره غواړى له موږ څخه ژمنه او لوظ واخله ، رسول كريم ﷺ وفرمايل : زه تاسوالله ﷻ ته رابولم اواسلام يې ورته وړاندې كى اودقرآن كريم تلاوت يې وكى اوداسى يې وفرمايل چې زه دالله ﷻ لپاره له تاسوداغواړم چې دهغه عبادت اوبندګى كوى اوله هغه سره څوک شريک مه نيسى اوله خپلوملګرو څخه داغواړم چې موږته ځاى راكړي ، اوڅنګه چې دخپلوزامنواوښځوساتنه كوى دغه رنګه به زموږساتنه كوى په غم اوپه ښادى ، په استراحت او تكليف ، په بيوزلى او مړتيا كې اوپه هرحال كې به زماخبره منى اوهرڅه چې زه وايم هغه به اورى ، انصاروپوښتنه وكړه چې كه موږداسى وكوو نوزموږلپاره به څه بدله وى ؟ رسول كريم ﷺوفرمايل ، جنت يعنى دآخرت هميشه نعمتونه ، انصاروؓ وويل هرڅه مومنلى دى راكه دبيعت دپاره لاس راپورته كه ، ابوالهيثم بن تيهانؓ وويل يارسول الله ﷺ زه يوه غوښتنه لرم هغه داچې زموږ اوديهودوترمنځ څه اړيكى شته ستاسره دتعلق په وجه ددوئ اړيكى له موږسره پريكيږى نوداسى خوبه نه وى چې كله الله ﷻ تاته برى دركى اوته بيرته مكى ته راسى اوموږ غمجن هلته پريږدى ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم چې داخبره واوريدله نوپه شونډانوكې يې وخندل اوداسى يې وفرمايل : هيڅ كله به داسى نه كيږى ستاسو نفسونه زمانفس دى اوتاسوزمايااست اوزه ستاسويم ، له چاسره چې ستاسوجګړه وى ، له هغوئ سره زماجګړه دى اوله چاسره چې ستاسى سوله دى له هغوئ سره زماسوله دى په دې خبره باندى ټولوپه ډيره مينه اوخوشالى سره دبيعت دپاره لاسونه پورته كړه (۱)

په دې كې اختلاف دى چې ترټولومخكې بيعت چاوكى ، دابن سعدپه يوروايت سره ټول مختلف اقوالوجمع كيږى ، سليمان بن نجيم فرمايې : كله چې داوس اوخزرج په دې اړه اختلاف سو چې ترټولومخكى چادنبى كريم ﷺ په لاس مبارک بيعت كړى دى نوبعضوو ويل چې په دې باندى عباسؓ ترټولوښه خبردى ، ځكه هغه په دغه وخت كې ناست وو له هغه بايدپوښتنه وسى ، عباسؓ وفرمايل :چې ترټولومخكې اسعدبن زرارهؓ

(۱) قال الحافظ العسقلانى اخرجه ابن اسحق وصححه ابن حبان فتح البارى جلد ۷ صفحه ۱۷۳)

سیف لودین کتابتون

بیعت کړی دی چی ترټولو نیک بخته او دښه نصیب څښتن دی ده لومړی له رسول الله ﷺ سره په لاس بیعت وکړورپسی بیا براء بن معرور رضی الله عنه او بیا اسید بن حضیر رضی الله عنه (۱)
عباس بن عباده الانصاری رضی الله عنه دبیعت دټینګولو اوښه ټینګار لپاره وویل ای دخزجیانو تاسو په دې خبریاست چی پرکوم شئ باندی تاسو بیعت کوئ هغه څه خطرونه هم لری، په دې پوه سی چی له عرب او عجم سره په جنګ کولو باندی بیعت کوئ که دراتلونکي غمو او تکلیفو په پیښبیدلو سره یې پریږدی نو اوس یې لا پریږدی په هغه وخت کې له ویری پریښودل ددنیا او اخرت درسوایی سبب کیږی او که تاسو په راتلونکي کې دغمو او ستونزو برداشت کولای سی او دخپلو ځانو او مالو دخرڅولو پر ژمنه دریږی نو والله چی په دې کې ستاسو ددنیا او آخرت بریالیتوب دی ټولو وویل هو موږ پردې بیعت کوو چی د نبی کریم ﷺ لپاره به ځانونه او مالونه ځاره وو دغمو او تکلیفو له ویری قسم په الله جل جلاله که موږ دا بیعت پریږدو.

تر بیعت وروسته دمشرانو ټاکل !

کله چی ټولو بیعت وکړ نو رسول کریم ﷺ وفرمایل : چی موسی علیه السلام دبنی اسرائیلو څخه دولس نقیبان مشران معلوم کړه دغه شان زه هم دجبرئیل علیه السلام په اشاره سره په تاسو کې دوولس نقیبان معلووم نبی کریم ﷺ هغه دوولس ته مخاطب سو دایې وفرمایل : چی تاسو به دخپل قوم کفیلان او ذمه وار یاست لکه حواریین چی دعیسی علیه السلام کفیلان وو (۲)
دمشرانو نومونه په لاندی ډول دی کفر الله عنهم سيئاتهم وادخلهم جنات تجري تحتها الانهار

(۱) سعد بن زراره رضی الله عنه (۲) عبدالله بن رواحه رضی الله عنه (۳) سعد بن الربیع رضی الله عنه (۴) رافع بن مالک رضی الله عنه (۵) ابوجابر عبدالله بن عمرو رضی الله عنه (۶) براء بن معرور رضی الله عنه (۷) سعد بن عبادة رضی الله عنه (۸) منذر بن عمرو رضی الله عنه (۹) عبادة بن صامت رضی الله عنه (۱۰) اسید بن حضیر رضی الله عنه (۱۱) سعد بن خیثمه رضی الله عنه (۱۲) رفاعة بن عبدالمنذر رضی الله عنه)

اوبعض علماء درفاعة رضی الله عنه پرځای دابوالهیثم بن تیهان رضی الله عنه نوم یاد کړی دی امام مالک رحمه الله فرمایې چی ماته دانصارو یوه سپین ږیری بیان کړی دی چی دمشرانو دټاکلو په وخت کې جبرئیل علیه السلام رسول الله ﷺ ته په اشاره ویل چی فلانی نقیب وګرزوه او فلانی نقیب وګرزوه (۳) زهری رحمه الله وایې چی نبی کریم ﷺ انصارو رضی الله عنهم ته وفرمایل چی زه ستاسو څخه دوولس نقیبان غوره کوم ستاسو څخه دی څوک دا فکرنه کوی چی زه ولی مشرنه سوم ځکه زه ماموریم څنګه چی حکم دی هغه شان یې ټاکم او جبرئیل علیه السلام دنبی کریم ﷺ څنګ ته ناست وو دهریوه دمشری حکم چی به وو هغه ته به یې اشاره کوله (۴)

(۱) قال العلامة الزرقاني رواه البيهقي باسناد قوي عن الشعبي ووصله الطبري واخرجه احمد، زرقاني جلد۱ صفحه ۳۱۷، سيرة ابن هشام جلد۱ صفحه ۱۵۶)
(۲) طبقات ابن سعد ۱۵۰)
(۳) زرقانی جلد۱ صفحه ۳۱۷)
(۴) روض الانف جلد۱ صفحه ۲۷۷)

سیف لودین کتابتون

کله چې سهار سو داخبر سمدستي په مکه کې خپور سو قریشو دیثرب له مشرکینو څخه پوښتنه وکړه هغوئ خو په دې بیعت نه وو خبر نو ځکه یې ورته وویل چې داخبر دروغ دی دوئ ورته وویل داخبر بالکل غلط دی که داسې وی نو موږ به هرومرو په څه خبرېدو له دې وروسته قافله د مدینې پرلور روانه سوه له روانیدو وروسته قریش په دې خبر سو چې داخبر رښتیا وو دوئ هڅه وکړه چې انصار راوګرزوی او دانصارو دګیرلو دپاره له مکې ووتل خو هیڅ په لاس نه ورغله ځکه قافله تللې وه یوائې سعدبن عباده ﷺ له قافلې پاته سوی وو هغه یې دلاری له مینځه راوګرزوی او ډیر یې ووهی جبیربن مطعم راغلی هغه یې ځینې خلاص کی (ابن هشام جلد ۱ صفحه ۱۵۷)

بیعت څه ته وایې او دلته یې څه مناسبت دی !

بیعت له بیع جوړی بیع خرڅولو ته وایې او دشریعت په اصطلاح کې په ډېره خو شالی او مینه سره خپل ځان او مال دالله ﷻ په لاس دجنت په بدل کې خرڅولو ته بیعت وایې :
کله چې دا بیعت وسو نو عبدالله بن رواحه ﷺ وویل یارسول الله ﷺ تاچې له موږ څه پرڅه بیعت واخیستی دارا ته ووایه چې د دې په بدل کې به موږ ته څه راکول کیږي ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : جنت عبدالله بن رواحه ﷺ وویل (ربح البیع لانقیل ولانستقل) ډیره ښه او ګټوره بیع دی موږ د دې بیع په ماتولو هیڅکله نه راضی کیږو .
په دې اړه دا آیتونه نازل سوه :

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (۱۱۱) آیت ، سورة التوبه)

ژباړه : په تحقیق سره الله ﷻ دمسلمانانو ځانونه او مالونه دجنت په بدله کې رانیولی دی ، دوئ به دالله ﷻ په لاره کې جهاد کوی کله به دوئ نور وژنی او کله به دوئ وژل کیږي دادالله ﷻ رښتینی وعده ده په تورات او انجیل او قرآن کې او ترالله ﷻ هیڅوک ډیر وعده پالونکي نه سی کیدای نو اې مسلمانانو تاسو ته دزیری وی او ستاسو داسودا دې ستاسو مبارک وی هغه چې تاسو له الله تعالی سره کړی دادیرلوی بریالیتوب دی.
(رواه الحاکم فی الاعن عن کعب بن مالک واحمد عن جابر ، فتح الباری جلد ۶ صفحه ۲ کتاب الجهاد

په جنت کې به یو بازار جوړیږي هر چاچې په دنیا کې دالله ﷻ په لاره کې خپل ځان او مال خرڅ کړی وی او ځان او مال یې الله عزوجل ته سپارلی وی هغه به په دې بازار کې په خپله خوښه شیان رانیسی له هغه بازاره چې څه دده زړه غواړي هغه به بی قیمته اخلی ځکه هغه خپل قیمت ځان او مال مخکې ورکړی دی . ولله درالقائل)

سیف لودین کتابتون

مسئله :محمد بن اسحق لیکي چې رسول الله ﷺ به یوائحی له نارینه وو سره په لاس بیعت په کوی او له ښځو سره یې په لاس نه کوي بلکې یوائحی دژبې په اقرار اوژمنه اخیستلو سره به یې داورته فرمایل :ځي له تاسو سره بیعت وسو (۱)

ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایې :

أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْتَحِنُ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ بِهَذِهِ الْآيَةِ بِقَوْلِ اللهِ { يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ إِلَى قَوْلِهِ غَفُورٌ رَحِيمٌ } قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَنْ أَقَرَّ بِهَذَا الشَّرْطِ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ قَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ بَايَعْتُكِ كَلَامًا وَلَا وَاللهِ مَا مَسَّتْ يَدُهُ يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ فِي الْمُبَايَعَةِ مَا يُبَايِعُهُنَّ إِلَّا بِقَوْلِهِ قَدْ بَايَعْتُكِ عَلَى ذَلِكِ (صحیح بخاری رقم الحدیث ۳۵۱۲) (۲)

ژباړه : نبی کریم ﷺ به دمهاجروښځو په دې آیت شریف سره امتحان اخیستی کومې ښځې چې به هغه شرطونه ومنل هغه چې په دې آیت کې یادسوی دی له هغې سره به یې په خبرو بیعت کوی او دابه یې ورته وویل چې ماله تاسره په خبرو بیعت وکړ ، قسم په الله جل جلاله درسول ﷺ لاس مبارک دبیعت په وخت کې له هیڅ ښځې سره نه دی موښتی یوائحی دخولې په وینا سره به یې بیعت کوی چې ماله تاسوسره په ژبه بیعت کړی دی .

او په مسند احمد او معجم طبرانی کې له اسماء بنت یزید رضی الله عنها څخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :انی لا اصافح النساء ولکن آخذ علیهن ما اخذ الله علیهن)

ژباړه زه له ښځو سره لاس په لاس بیعت نه کوم یوائحی دالله جل جلاله دپیروی ژمنه ځنی اخلم اودا روایت دعبدالله بن زبیر رضی الله عنه څخه په طبقات ابن سعد او مسند احمد او ترمذی کې هم راغلی دی ، امام ترمذی فرمایې دا حدیث حسن او صحیح دی ، نو له دې امله نن صباچې یو شمیر ناپوه پیران داکار کوی دادشریعت خلاف دی اسلام له دې بیزاره دی خلک دی نه په دې ناپوهانو پیرانو نه خطاوزی (۳)

دانصارو قافله له مکی څخه مدینی ته ورسیده دخپل اسلام اعلان یې وکی دمدینې ډیری قبیلی په اسلام کې داخلی سوی مگر بعض سپین ږیری لا ترا وسه په هم پر هغه زړه بت پرستی باندی ډیر ټینګ ولاړوو له دوئ څخه یو عمرو بن الجموح دبنی سلمة قبیلی مشر او سردار دی خو دده زامن معاذ بن عمرو بن الجموح رضی الله عنه درسول کریم ﷺ په لاس باندی بیعت کړی وو او له مکی څخه مدینی ته راستون سو، عمرو بن الجموح دلرګی څخه ډیر ښائسته بت جوړ کړی وو او هره ورځ به یې دهغه عبادت کوی او ډیر به یې نازوی په ښو عطرو به یې خوشبو به کوی او پریولی به یې یوه شپه دده زوی معاذ بن عمرو رضی الله عنه او

(۱) ابن هشام جلد ۱ صفحه ٦٣)

(۲) بخاری شریف جلد ۲ صفحه ۷۲٦)

(۳) کنز العمال جلد ۱ صفحه ۲٦)

سیف لودین کتابتون

معاذبن جبل ﷺ اودبنی سلمه څونورځوانان راټول سودامشوره یې وکړه چې دعمروبن الجموح بت به وړو اوپه یوه کنده کې به یې غورزوو کله چې شپه سوه دوئ راغلو بت یې یوړوی په یوه مرداره کنده کې یه وغورځوی ، کله چې سهارسو نوعمروبن الجموح ولیدل چې دده خپل جوړکړی خدای نسته ، وې ویل افسوس زه نه یم خبرچې زماخدای چاتښتولی دی اودهغه په لټون پسې له کوره راووتی یوی خوااوبلې خواته سرګردانه ګرزیدی وروسته یې بت په یوه کنده کې پړمخې پروت ولیدی ده له هغه ځایه بت راواخیستی او راروان سو بت یې راوړی ښه یې پریولی اوخوشبویه یې کی بیرته یې پرخپل ځای ودروی کله چې دویمه شپه سوه نویبیادې مبارکانودتیری شپې کاروکړ او بیا یې هغه بت په یوه کنده کې وغورزوی، کله چې سهارسو نوعمروبن الجموح بیا د هغه په لټه پسې ووتی ، بت یې پیداکی اورایې وړی پاک یې کی اوخوشبویه یې کی کله چې څوورځې پرلپسې داناورین پربت تیرسو نوعمرو بن الجموح ډیرغمجن سو بت یې راوړی اوپرخپل ځای یې ودروی او توره یې راواخیسته دبت په غاړه یې وځړوله اوورته په خبروسو ده بت ته وویل قسم په الله که زه په دې خبریم چې له تاسره دابدچلند څوک کوی که په تاکې څه توان اوخیروی نوداتوره درسره شته اوته په خپله دخپل ځان ساتنه وکوه،کله چې شپه سوه نومعاذ ﷺ اوملګری بیاراغلو اودبت له غاړې یې توره خلاصه کړه اوبت یې له یوه مردارسوی سپي سره په یوپړی وتړی اودواړه یې په یوه څاه کې وځړول کله چې سهارسو نوعمروبن الجموح بیاغمجن سو چې بت خوبیانسته عمرو بن الجموح ډیرغمجن دبت په لټون ووتی که ګوری بت اویومړسپی دواړه په یوه پړی ځړیږی ددوئ په لیدوسره سم یې سترګې خلاصې سوی اوبت ته یې وویل قسم په الله ﷻ که ته خدای وای نودومره به نه ذلیل کیدی ده بت هم هلته پریښودی راغلی اواسلام یې راوړی اوداللہ ﷻ شکریې اداء کی چې الله ﷻ په خپل رحمت سره له دې ګمراهی څه وژغورلم اوله ړوندوالی څخه یې بیناوګرزولم اوداشعرونه یې وویل :

وَاللهِ لَوْ كُنْتَ اِلٰهاً لَمْ تَكُنْ ::::::::::::::: اَنْتَ وكَلْبٌ وَسَطُ بِئْرٍ فِي قَرْنٍ

قسم په الله ﷻ که ته خدای وای نوته به په کوهی کې له سپي سره نه وی تړل سوی

اف لملقاک الها مستدن (١) ::::::::::::::: الآن فتشاک عن سوء الغبن

ستاخدایې دې بربادسی نن موږپه خپله کم عقلی اوناپوهی پوه سو .

الحمدلله العلی ذی المنن ::::::::::::::: الواهب الرزاق دیّان الدین

ستاینه هغه ذات لره دی چې لوی احسان کونکی اورزق ورکونکی اوبدله ورکونکي دی

هُوَالَّذِی اَنْقَذَنِی مِنْ قَبْلِ اَنْ ::::::::::::::: اَكُوْنُ فِي ظُلْمَةِ قَبْرٍ مُرْتَهَنْ

(١) قوله مستدن من السدانة وهی خدمت البیت وتعظیمه ، روض الانف جلد١ صفحه ٢٨)

سیف لودین کتابتون

6

هغه مونږ له دې بیلارۍ څخه خبر کړو مخکې تردې چې زه د قبر په تیارو کې خبر سم

بِأَحْمَدَ الْمَهْدِيِّ النَّبِيِّ الْمُؤْتَمَنْ (١)

د احمد مجتبی ﷺ د الله ﷻ د لارې لاربنوونکی نبی امین په برکت مونږ ژغورل سو.

او دا شعرونه یې هم ولوستل:

أَتُوبُ إِلَى اللهِ مِمَّا مَضَى ::::::::::::::::::::::: وَأَسْتَنْقِذُ الله من نارِهِ

زه له تیرو ټولو ګناهو څخه الله ﷻ ته توبه کاږم او د دوزخ له اوره پناه غوارم

وَأُثْنِي عَلَيْهِ بِنُعْمَائِهِ :::::::::::::::::::::: إِلَهَ الْحَرَامِ وَ استارِهِ

او د هغه د نعمتو شکر ادا کوم هغه چې د بیت الحرام او د هغه د پردو مالک ﷻ دی

فَسُبْحَانَهُ عَدَّ الْخَاطِئِين :::::::::::::::::::::: وَقَطْرُ السَّمَاءِ وَمِدْرَارُهُ

او د هغه پاکی بیانوم په اندازه او شمیر د ګناهګارانو او د باران د څاڅکو په شمیر بیانوم

هَدَانِي وَقَدْ كُنْتُ فِي ظُلْمَةٍ :::::::::::::::::::: حَلِيفَ مناةٍ وَأَحْجَارِ

هغه ما ته لاروښوده په داسې حال کې چې زه د کفر او شرک په تیارو کې پټ وم او د مناة او د هغه د همجنس کاڼو ملګری ګرزیدلی وم

وَأَنْقَذَنِي بَعْدَ شَيْبِ الْقَذا ::::::::::::::::::: مِنْ شَيْنٍ ذَاكَ وَمِنْ عَارِهِ

او د سپین ږیروالی څخه وروسته الله ﷻ زه له د بت پرستی له شرم او پیغوره خلاص کړم

فَقَدْ كِدْتُ أَهْلِكُ فِي ظُلْمَةٍ :::::::::::::::::: تَدَارَكَ ذَاكَ بِمِقْدَارِهِ

نژدی وم چې د دې بت پرستی په تیارو کې برباد سم ایمان راوړلو د دې ځای ونیوی

فَحَمْداً وَشُكْراً لَهُ مَابَقِيتُ :::::::::::::::::: إِلَهُ الْأَنَامِ وَجَبَّارِهِ

اې د مخلوق پیدا کوونکی خدایه ترڅو چې زه ژوندی یم تر هغه وخت پورې به زه ستا ثناء او ستاینه او حمد وایم

أُرِيدُ بِذَلِكَ إِذْقُلْتُهُ :::::::::::::::::: مُجَاوَرَةَ اللهِ فِي دَارِهِ

په دې ویناسره زما موخه او هدف دادی چې ما ته د الله ﷻ نژدی والی حاصل سی (٢)

نکته: د الله ﷻ د عادت شریف دی چې کله د انبیاء او رسولانو علیهم السلام انکار او تکذیب ترحد واوړی او د انبیاء علیهم السلام په پلویانو او منونکو باندی غمونه او تکلیفونه پای ته ورسیږی او پیغمبران د دوئ له اسلام راوړلو نا امیده سی نو په همدې وخت کې د الله ﷻ کومک راځي لکه چې الله ﷻ فرمایي: أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللهِ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللهِ قَرِيبٌ (٢١٤) آیت سورة البقرة) وقال الله تبارک وتعالی: حَتَّى إِذَا اسْتَيْئَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا جَاءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّيَ مَنْ نَشَاءُ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ (١١٠) آیت سورة یوسف)

---

(١) البدایه والنهایه جلد ٣ صفحه ١٦٥، ابن هشام جلد ١ صفحه ١٥٨)

(٢) دلائل ابی نعیم جلد ٢ صفحه ١١٠)

سیف لودین کتابتون

ژباړه : ایاستاسو داګمان دی چی جنت ته به پرته له تکلیفو داخل سی او تاسو ته به دتیرو امتو په شیر تکلیفونه نه وه رسیږی هغوئ ته دومره ضررونه او تکلیفونه ورسیدل چی رسول او مؤمنانو به ویل چی دالله عزوجل مرسته به کله راځی نو په همدې وخت کې به داورته وویل سو چی خبردار ! دالله جل جلاله مرسته او نصرت ډیرنژدی دی ،

او په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایي : تردې حده چی انبیاء کرام علیهم السلام به نا امیده سو او له دوئ سره به داویره پیدا سوه چی دخلکو خامخا داخیال او ګمان دی چی موږ ته غلطه خبره سوی په همدې وخت کې به زموږ مرسته دوئ ته راورسیده .

دغه رنګه د رسول الله ﷺ او دده دملګرو غمونه او تکلیفونه پای ته ورسیدل او دطائف سفردوئ دلاری ته راتلو یو قسم نا امیدی هم پیدا که نو په همدې وخت کې دجاءهم نصرنا مصداق ښکاره سو او دالله جل جلاله نصرت او مرسته راورسیدله هغه داچی الله جل جلاله انصار درسول الله ﷺ او دده دمرستی او ساتنی لپاره له مدینی څخه راوستل او له نبی کریم ﷺ سره یې په لاس بیعت وکی او دنبي کریم ﷺ دمرستی او ساتنی وعده یې وکړه او بیرته ولاړل ، فرضی الله عنهم ورضُوعنهُ ،

مدینی منوری ته هجرت پیل سو !

لکه څنګه چی دنبوت پیل په ریښتینی خوبو وسو دغه رنګه دهجرت پیل هم دښو خوبو په لیدلو سوی دی په پیل کې رسول الله ﷺ ته په خوب کې دهجرت ځای وښودل سو خو دځای نوم نه وښودل سو بلکې یوائی کوتاه دومره ورښودل سوی وو چی ته به و خورما لرو نکی ځمکی ته هجرت کوی په دې وجه به رسول الله ﷺ په فکرچی کیدای سی داځای یمامه یا هجر وی نبی کریم ﷺ په دې شک او تردد کې وو چی دالله جل جلاله له لوری وحی راغله او صحابه کرام رضی الله عنهم ته یې مدینی منوری ته دهجرت کولو اجازه وکه (۱)

په یو بل حدیث شریف کې راغلی دی چی الله جل جلاله په نبی کریم ﷺ باندی وحی نازله کړه چی دمدینی او بحرین او قنسرین دې درې سره ښاروکې چی په کوم یو ستاخوښ وی هغه به ستادهجرت کور وی ، (رواه الترمذی والبیهقی عن جریر رضی الله عنه کذافی البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۱۶۸)

نکته: لکه څنګه چی وعزتمند میلمه ته ډیر ځایونه وړاندی کیږی کوم ځای چی دده خوښ وی پرهغه ځای کښینی دغه رنګه داعزاز او اکرام په ډول رسول الله ﷺ ته ډیر ځایونه وښودل سو او په پای کې مدینه منوره معلومه سوه او دهجرت ځای وټاکل سو ،

محمد ابن اسحق وایي چی دبیعت عقبه له پوره کیدو وروسته رسول الله ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم ته ومدینی ته دهجرت کولو حکم وکی ، ددې حکم په اوریدو سره په پټه باندی د هجرت لړی پیل سوه ترټولومخکې درسول الله ﷺ رضاعی ورور ابوسلمة بن عبدالاسد مخزومی رضی الله عنه له خپلی ښځی او ماشوم سره دهجرت نیت وکی مګر هغه وخت

(۱) زرقانی جلد ۱ صفحه ۳۱۸)

سیف لودین کتابتون

هجرت کول هم څه آسان کارنه وو هر چاچې به دهجرت اراده وکه قریشو به لاروړته بندوله اوپوره کوښښ به یې کوي چې څوک له مکې ولاړنه سي مهاجرو ته به یې رنګارنګ تکلیفونه رسول کله چې ابوسلمة ﷛ پراوښ کجاوه کیښوده ښځه اوماشوم یې پړاوښ باندې سپاره کړل قریش هم سمدستې خبرسود ام سلمة ﷛ خپلوان راغلو ابوسلمة ﷛ ته یې وویل ته تلای سې مګر زموږ ترورام سلمة ﵂ نه سې بیولای ام سلمة ﵂ (۱) یې ترلاس ونیوه اوراکش یې کړه اوله بلې خوادابوسلمه ﷛ خپلوان راغلو وویل یې چې داماشوم خو زموږ دقبیلې دی ماشوم څوک له ځان سره نه سې بیولای اودام سلمة ﵂ له غیږې څخه واخیستې مور اوپلار اوماشوم درې سره بیل سو ابو سلمه ﷛ یوائې مدینې ته روان سو ځکه ام سلمه ﵂ خپلو خپلوانو ځنې وګرزوله اوماشوم یې دابوسلمه ﷛ قبیلې ځنې وګرزوی ابوسلمه ﷛ خپله یوائې مدینې ته روان سو ته ام سلمه ﵂ وایې کله چې به سهارسو نوزه به ابطح په نامه ځای ته ولاړم اوترماښامه به مې ژړل په دې ژړاکې یو کال تیرسو بل وخت زمادآکاله زامنو څخه دیوه پرمازړه وسوځی اوزماقبیلې بنی المغیرة ته یې وویل چې ستاسوپردې بیچاره ښځه زړه نه سوځی تو له ورځ په ژړاوې بنی المغیره ماته دمدینې دتلو اجازه راکړه اوبنی الاسد چې دابوسلمه ﷛ قبیله وه هغوئ خپل ماشوم راته وسپاری ماکوچنی په غیږکې رااخیستی اوپه اوښ سپره سوم یوائې مې دمدینې منورې لاره ونیوه اوروانه سوم کله چې دتنعیم په نامه ځای ته ورسیدم نوعثمان بن طلحه ﷛ راسره مخامخ سو (۲) هغه پوښتنه راڅخه وکړه چې دکوم ځای دتلو اراده لرې ماوویل دخپل میړه ځم مدینې منورې ته هغه پوښتنه وکه آیاستاسره څوک سته ؟ ماوویل «لَا وَاللهِ اِلاَّ اللهُ وَبُنَیَّ هَذَا» ماورته ویل ته قسم په الله که هیڅوک وی مګر الله ﷻ اوزماداکوچنی زوی ، ددې خبرې په اوریدوسره عثمان ﷛ ډیر غمجن سو ، ده سمدستې داوښ مهار ونیوی اومخکې روان سوموږ خپل سفرته دوام ورکړ کله چې به د کښنته کیدو ځای راغلی نوده به اوښ ګونډه کی اوپه خپله به لیرې یوې خواته ودریدی کله چې به زه راکښته سوم نودئ به بیرته راغلی اواوښ به یې بوتلی اوپه یوه ونه پورې به یې وتړی اودهغې ونې سایه ته به کینستی ، اوکله چې به دتګ وخت راغلی نوده به اوښ راوستی اونوموړی به ولاړی یوې خواته به ودریدی ماته به یې وویل سپره شه ، کله چې به زه سپره سوم نودئ به راغلی اوداوښ مهاربه یې ونیوی هرځای چې به مودمه کوله نوداسې به یې کول ترڅو

---

(۱) داهغه ام سلمة ﵂ دی چې دابوسلمة ﷛ له مرګ وروسته دنبی کریم ﷺ په نکاح کړه اودټولو مسلمانانو مورده)

(۲) عثمان بن طلحه ﷛ دحدیبه دسولې په وخت کې په اسلام مشرف سو اوله خالدبن ولید ﷛ سره یې هجرت وکړ اومدینې منورې ته ولاړی ، عثمان بن طلحه ﷛ دعمرفاروق ﷛ دخلافت په وخت کې شهیدسو ، روض الانف جلد۱ صفحه ۲۸۴)

سیف لودین کتابتون

مدینی منوری ته ورسیدو کله چې دقباد کلی سرایونه ښکاره سو نوعثمان رضي الله عنه وویل چې په دې کلي کې ستامیره استوګنه کوی دالله جل جلاله دنامه په برکت هغه کلی ته داخل سو اوزه یې خپل میره ته ورسولم اوعثمان بن طلحه رضي الله عنه بیرته مکی ته ولاړی ، قسم په الله جل جلاله که ماترعثمان رضي الله عنه ډیرشریف اوعزتمند څوک لیدلی وی (۱)

له ده وروسته عامربن ربیعه رضي الله عنه له خپلی ښځي لیلی بنت خیثمه رضي الله عنها اووروسی ابواحمد بن جحش رضي الله عنه اوده وروعبدالله بن جحش رضي الله عنه له خپلی کورنی سره هجرت وکړ اوسرایوته یې قلف ورواچوی ، عتبه اوأبوجهل راغلوددوئ سرایونه یې خالی ولیدل دوئ همداحالت په سترګولیدی چې خلک یویو ځی اودمکی مکرمی سرایونه خالی کیږی ددې حالت په لیدلو عتبه ډیرغمجن سو اوپه اسویلی یې داشعرووایو :

كُلُّ دَارٍ وَإِنْ طَالَتْ سَلَامَتُهَا :::::::: يَوْمًا سَتُدْرِكُهَا النَّكْبَاءُ وَالْحُسُوبُ..

هرسرای که څه هم تر ډیری مودی آباد وی مګریوه ورځ نه یوه ورځ هغه ته غم اوماتم رسیږی وروسته ده وویل چې داټول زموږ دوراره له لاسه دی ځکه ده زموږ ټولنه سره بیله کړه،تردوئ وروسته عکاشه بن محصن رضي الله عنه اوعقبه بن وهب رضي الله عنه اوشجاع بن وهب رضي الله عنه اواربدبن جمیرة رضي الله عنه اومقدبن بنانه رضي الله عنه اوسعیدبن رقیش رضي الله عنه اومحرزبن نضله رضي الله عنه اویزیدبن رقیش رضي الله عنه اوقیس بن جابر رضي الله عنه اوعمروبن محصن رضي الله عنه اومالک بن عمرو رضي الله عنه اوصفوان بن عمرو رضي الله عنه اوثقیف بن عمرو رضي الله عنه اوربیعه بن اکثم رضي الله عنه اوزبیربن عبید رضي الله عنه اوتمام بن عبیده رضي الله عنه اوسنجرة بن عبیده رضي الله عنه اومحمدبن عبدالله بن جحش رضي الله عنه اوله میرمنوڅخه زینب بنت جحش رضي الله عنها اوام حبیبه بنت جحش رضي الله عنها اوجذامه بنت جندل رضي الله عنها اوام قیس بنت محصن رضي الله عنها اوام حبیب بنت ثمامه رضي الله عنها اوآمنه بنت رقیش رضي الله عنها اوسنجرة بنت تمیم رضي الله عنها اوحمنه بنت جحش رضي الله عنها هجرت وکړ اوتردوئ وروسته عمرفاروق رضي الله عنه اوعیاش بن ابی ربیعه رضي الله عنه له شلوسپروسره یوځای دهجرت لاره ونیوه ، هشام بن العاص رضي الله عنه هم له عمر فاروق رضي الله عنه سره دهجرت هوډ وکړ مګرقریشودده مخه ونیوه اونوموړی یې له هجرت کولو راوګرزوی کله چې عمرفاروق رضي الله عنه اوعیاش بن ابی ربیعه رضي الله عنه مدینی ته ورسیدل نوابوجهل بن هشام اوحارث بن هشام دابوجهل خبیث ورور چې وروسته بیاپه اسلام مشرف سو دواړه مدینی ته راغلل اوعیاش رضي الله عنه ته یې وویل چې ستامور قسم کړی دی چې ترڅو چې تا ونه وینی که ترهغوبه نه سرږمونځوی اونه به له لمروسایې ته کښینی ، عیاش رضي الله عنه چې داخبره واوریده نوپرموریې زړه وسوځی اوله ابوجهل خبیث سره یوځای راروان سو مکی ته تررسیدومخکې ابوجهل خبیث پر لار په رسیووتړي اومکی ته یې لاس تړلی راوستی تر ډیره وخته په مکه کې بندی وواورنګارنګ تکلیفونه یې ورکړه رسول الله ﷺ

سيف لودين کتابتون

به هرسهارپه لمانځه کې قنوت نازله لوستی اودوئ دازادیدلو داسی دعابه یې داکوله

اللهم انج الولید بن الولید وسلمة بن هشام وعیاش بن ابی ربیعة

یاالله ولید رضی الله عنه اوسلمه رضی الله عنه اوعیاش رضی الله عنه ته دکافرانوله ظلم خلاصون ورکی ..

کله چی دوئ دالله عزوجل په مرسته له بنده خلاص سو سمدستی مدینی ته راغلو

کومو کسانوچی له عمرفاروق رضی الله عنه سره هجرت کړی دی دهغوئ نمونه په لاندی ډول دی :

(۱) زیدبن الخطاب رضی الله عنه دعمرفاروق رضی الله عنه مشرورور (۲) عمروبن سراقه رضی الله عنه (۳) عبدالله بن سراقه رضی الله عنه (۴) خنیس بن حذافه سهمی رضی الله عنه (۵) سعیدبن عمروبن نفیل رضی الله عنه (۶) واقدبن عبدالله التمیمی رضی الله عنه (۷) خولی بن خولی رضی الله عنه (۸) مالک بن ابی خولی رضی الله عنه (۹) ایا س بن بکیر رضی الله عنه (۱۰) عاقل بن بکیر رضی الله عنه (۱۱) خالدبن بکیر رضی الله عنه دي نوموړو صحابه رضی الله عنهم له عمرفاروق رضی الله عنه سره یوځای مدینی منورې ته کډه وکړه ،

ددوئ ترهجرت وروسته دمهاجرینویوه لویه قافله تیاره سوه دهغوئ نمونه داسی دی ،

عبیدالله رضی الله عنه اوصهیب بن سنان رضی الله عنه اوحمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه اوزیدبن حارثه رضی الله عنه ابو شد کنازبن حصن رضی الله عنه اوانسه رضی الله عنه او ابوکبشه رضی الله عنه اوعبیدة بن الحارث رضی الله عنه اودهغه دواړه وروڼه طفیل بن الحارث رضی الله عنه اوحصین بن حارث رضی الله عنه اومسطح بن اثاثه رضی الله عنه اوسویط بن سعد رضی الله عنه اوطلیب بن عمیر رضی الله عنه اوخباب بن الارت رضی الله عنه اوعبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه اوزبیربن العوام رضی الله عنه اوابوسبرة بن ابی رهم رضی الله عنه مصعب بن عمیر رضی الله عنه ابوحذیفه بن عتبه رضی الله عنه اوسالم رضی الله عنه دحذیفه رضی الله عنه مریئ اوعتبه بن غزوان رضی الله عنه اوعثمان بن عفان رضی الله عنه دوئ ټولو ومدینی ته هجرت وکی

لنډه داچی په ورو ورو ټولو صحابه رضی الله عنهم هجرت وکی مدینی ته ورسیدل په مکه کې یوائي رسول الله ﷺ اوابوبکرصدیق رضی الله عنه اوعلی کرم الله وجهه پاته سوااویوڅونوربیکسه او بیو زله مسلمانان هغه چی دقریشوپه لاس کې ووهغه پاته سو (۲)

---

(۱) زیدبن الخطاب رضی الله عنه له سابقین اولینوڅخه دی په کال ۱۲ هجری کې دیمامه په غزاکې په شهادت ورسیدی ، عمرفاروق رضی الله عنه ته چی کله دزیددشهادت خبرورسیدی نو ډیرغمجن سوداسی یې وفرمایل: سبقنی الحسین اسلم قبلی استشهدقبلی ، زید رضی الله عنه ترماپه دووښوشیانوکې مخ ته سو یوترمامخکې مسلمان سو ، اوبل ترمامخکې شهیدسو (زرقانی جلد۱ صفحه ۳۲۰)

(۲) ابن هشام جلد ۱ ، صفحه ۱٦۳)

یاداشت : ستاسوددعامحتاج حمدالله په کمپیوټرلیکونکي اوژباړونکي درنو لوستو نکو ستاسوددعاډیر محتاج یم هیله ده چی په دعاکې ماهم یادکي (دهجرت سیمه کوټه کال ۱۴۳۵ هجری سیوړمیز ۲۰۱۴ جنوری میاشت)

په دار الندوه (١) کې دقريشوغونډه اودنبی کريم ﷺ دشهادت مشوره !

قريشو صحابه رضي الله عنهم ليدل چې په ورو ورو هجرت کوی اومدينی ته ځي اورسول الله ﷺ هم په نژدی شپوروزرځوکې روان دی په دارالندوره کې دقريشومشران دمشوری لپاره راټول سوکوموموشرانوچې دنبی کريم ﷺ دشهادت فيصله وکړه هغو نمونه په لاندی ډول دی (١) عتبه بن ربيعه (٢) شيبه بن ربيعه (٣) ابوسفيان بن حرب (۴) طعيمه بن عدی (۵)جبيربن مطعم (۶) حارث بن عامر (٧) نضربن حارث (٨) ابوالبختری بن هشام (٩) زمعة بن الاسود (١٠) حکيم بن حزام (١١) ابوجهل بن هشام (١٢) نبيه بن حجاج (١٣) منبه بن حجاج (١۴) اميه بن خلف (١۵) شيطان لعين اويوشميرنورخلک هم وو، شيطان لعين ديوسپين ږيری سړی په شکل راغلی اوپه دروازه کې ودريدی خلکو پوښتنه ځنی وکړه چې ته څوک يې ؟ ده وويل زه دنجديوسپين ږيری يم که ستاسوخوښه وی نو زه هم غواړم چې ستاسوخبری واورم اوزه به هم په خپله رايه اومشوره ستاسو مرسته وکړم، خلکودداخليدواجازه ورکړه، مشوری پيل سوی :

چاويل چې محمدبايد په يوه کوټه کې بندی سی ، شيخ نجدی وويل داسمه رايه نه دی، ځکه دده ملګری که چيری خبرسی نوپرتاسوبه حمله وکوی اودي به خامخاخلاص وی، بل چاياوويل چې محمد ﷺ بايدله هيواده وشړل سی، شيخ نجدی وويل دارايه خوبيخی غلطه دی ځکه تاسودده دخبرو انداز اوخوږوالی اوپه زړوکې دهغو اثرنه دی ليدلی که له دې ځايه وايستل سی اوبل ځای ته ولاړسی نوکيدای سی چې دهغه هيواد خلک دده خبره ومنی اوپرده ايمان راوړی اوبيابه ټول پريوه ځای پرتاسو حمله وکوی، ابوجهل خبيث وويل زمارايه خوداده چې نه خوبايدبندی سی اونه له هيواده وشړل سی بلکې له هری قبيلی دی يوځوان غوره سی اوبيادې ټول پريوه ځای په يوه وار پرمحمد ﷺ باندی دتوروګذار وکوی په دې طريقه به دمحمد ﷺ وينه پرټولو قبيلوتقسيم سی اوبنی عبدمناف له ټولو قبيلوسره جنګ نه سی کولای خامخابه جوړه کوی موږبه ديت ورکړو اوله دې غمه به خلاص سو ، شيخ نجدی وويل قسم په الله عزوجل داډيره ښه رايه ده

---

(١) په مکه مکرمه کې دالومړنی ځای دی چې دقريشومشر قصی بن کلاب دخاصومشورولپاره جوړکړی وواوپه همدې ځای کې به يې مشوری کولی ترقصی بن کلاب وروسته داځای دبنی عبدالدارپه ولکه کې راغلی ، اودهغوئ څخه حکيم بن حزام رضي الله عنه وروسته په اسلام مشرف سو اودمعاويه رضي الله عنه دخلافت په وخت کې يې په يولک درهم داځای خرڅ کړيوشميربدورته وويل چې تادپلارواونيکه دعزت يوه نښه له خپله لاسه وايسته ، خوحکيم بن حزام رضي الله عنه ډيردقناعت وړځواب ورکی (ذهبت المكارم الا التقوى) قسم په الله ټول عزتونه ختم سو پرته له تقوی اوپرهيزګاري ، قسم په الله جل جلاله دجاهليت په وخت کې داځای مادشرابوپه يوه زی رانيولي وو اواوس مې په يولک درهم وپلوری اوزه تاسوشاهدان ګرزوم چې دايولک درهم ټول دالله جل جلاله په لاره کې خرڅوم تاسو راته ووايست ددې څه تاوان دی (ذکره الدارقطنی فی رجال المؤطا (زرقانی جلد١، صفحه ٣٢١)

سیف لودین کتابتون

او زماهم همداسې خوښه ده دمجلس ناستوخلکوهم همدارايه خوښه کړه (١) دوئ دا پريکړه وکړه چې داکار بايدنن شپه ترسره سي پريکړه وسوه او مجلس هم پاى ته ورسيدى خوله بل لورى جبرئيل امين عليه السلام دالله جل جلاله له لورى داسې وحې راوړه : وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ (٣٠) آيت . سورة الانفال

اوهغه وخت دريادکړه کله چې قريشوتدبيرونه جوړول چې تابندې کې ياووژنې ياتاله وطن وشړي دوئ رنګارنګ چلونه جوړول اوالله جل جلاله غوره تدبيرجوړونکي دى .

جبرئيل عليه السلام نبى کريم ﷺ ته ټوله قصه بيان کړه اودالله جل جلاله له لورى ځخه يې هغه ته دمدينې دهجرت اجازه اوپيغام ورسوى اوداسې دعايې ورته وښوده : وَقُل رَّبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلْطَانًا نَّصِيرًا (٨٠) آيت . سورة الاسراء)

ووايه چې اې زماپالونکې خدايه ماپه رښتينې رسيدوسره ورسوى اوپه رښتينې وتلوسره ماوباسې اوستاله لورى ماته حکومت اومرسته راکړې .

له على رضي الله عنه ځخه روايت سوى چې نبى کريم ﷺ له جبرئيل آمين عليه السلام ځخه پوښتنه وکړه چې له ماسره به څوک هجرت کوى جبرئيل عليه السلام ورته وويل ابوبکرصديق رضي الله عنه (روالحاکم وقال صحيح الاسناد وقال الذهبى صحيح غريب (٢)

په صحيح بخارى کې له عائشه صديقه رضي الله عنها ځخه روايت سوى دى چې رسول الله ﷺ په ټکنده غرمه کې دابوبکرصديق رضي الله عنه کورته تشريف راوړى اووې فرمايل چې ماته دهجرت اجازه سوى ابوبکر صديق رضي الله عنه غوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ زمامور اوپلاردى پر تاقربان وى آياماته به ستادملګرتيا عزت حاصل سى ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هو دابن اسحق روايت دى چې ابوبکرصديق رضي الله عنه چې کله داخبره واوريده وې ژړل ، عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايې چې تردې مخکې زمافکرنه وچې يوڅوک دى له ډيرخوشالى هم ژاړى ، ابوبکرصديق رضي الله عنه مخکې لادهجرت دپاره دوې اوښې ساتلى وى اوهغوته يې له څلورو مياشتوراهيسى دببول پاڼې ورکولې ابوبکرصديق رضي الله عنه وويل يارسول الله ﷺ زمامور اوپلاردې پرتاقربان وى، له دې اوښوچې کومه يوه ستاخوښه وى هغه زماله خواتاته هديه دى، خونبى کريم ﷺ وفرمايل چې زه يې بيله قيمته نه اخلم په معجم طبرانى کې له اسماء بنت ابى بکر رضي الله عنها ځخه روايت سوى چې ابوبکر صديق رضي الله عنه وويل چې سمه دى ستاخوښه دى که په قيمت قبلوى اوکه هديه قبلوى (٣) لنډه داچې ابوبکرصديق رضي الله عنه وويل چې زماغوښتنه ستادغوښتنې تابع دى په دې ځاى کې بعضې خلکوته داشک

(١) طبقات ابن سعد جلد ١ ، صفحه ١٥٢ ، عيون الاثر جلد ١ ، صفحه ١٧٧)
(٢) زرقانى جلد ١ ، صفحه ٢٢٦)
(٣) فتح البارى جلد ٧ ، صفحه ١٨٣)

سیف لودین کتابتون

پیښ سوی دی چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه داوښي ترارزښت ډیرخرڅ په رسول الله ﷺ باندی راوستی اونبی کریم ﷺ هغه ومني، خوخبره داسی نه دی ځکه په صحیح بخاری کې راغلی دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل: ابوبکرصدیق رضی الله عنه چې څومره په خپل ځان اومال سره پرمااحسان کړی دی هغومره هیچاهم نه دی کړی، اوپه ترمذی کې راغلی دی چې هرچاچی له ماسره نیکي کړی مادهغه بدله ورکړی پرته له ابوبکرصدیق رضی الله عنه څخه ځکه دده دنیکی بدله به دقیامت په ورځ الله تعالی ورکوی شک دادی چې دهجرت په وخت کې نبی کریم ﷺ داوښي دقیمت په ورکولو ولی ټینګاروکړ؟

ځواب دادی چې هجرت لوی عبادت دی ځکه هجرت الله عزوجل ترایمان وروسته یادکړی دی په دې وجه رسول الله ﷺ نه غوښتل چې په دې لوی عبادت کې بل څوک له ځان سره شریک کړی نبی کریم ﷺ غوښتل چې دالله جل جلاله په لاره کې هجرت یواځی په خپل ځان اومال سره وکوی (۱)

فایده !واقدی ویلی دی چې داوښی نوم قصواء وه، محمدبن اسحق ویلی دی چې ددې اوښی نوم جدعاء وه بخاری باب غزوة الرجیع (۲)

واقدی لیکي چې داوښی قیمت اته سوه درهم وو علامه زرقانی لیکي چې صحی دادی چې څلورسوه درهم وو اته سوه درهم ددواړواوښو قیمت دی لکه چې دعائشه صدیقه رضی الله عنها په یوروایت کې ددې تصریح سو ی(وكان ابوبكر اشتراهما بثمان مائة درهم (۳) ابوبکر صدیق رضی الله عنه دواړه اوښی په اته سوه درهم رانیولی وی.

له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت سوی چې جبرئیل علیه السلام راغلی دقریشو دمشوری خبرې نبی کریم ﷺ ته ورکړ اوورته وې فرمایل چې نن شپه په خپل کورکې مه تیره وه (اخرجه البیهقی (۴) کله چې شپه سوه (۵) اوتیاره خپره سوه نوقریش دخپلی پریکړی مطابق راغلو اودرسول کریم ﷺ دسرای پرشاوخواراوڅرخیدل دوئ په دې انتظاروو چې کله نبی کریم ﷺ ویده سی نوحمله به پری کوو، نبی کریم ﷺ علی رضی الله عنه ته حکم وکی چې زماشین رنګ پټو واغونده اوزماپربستره ویده سه اوهیڅ مه ویره دوئ تاته هیڅ ضرر نه سی رسولای، قریش که څه هم درسول الله ﷺ دښمنان وو مګرنبی کریم ﷺ یې صادق اوآمین ګڼی اوډیر اماتنون به یې له ده سره ایښودل نبی کریم ﷺ هغه ټول اماتنونه وعلی رضی الله عنه ته

(۱) روض الانف جلد ۲، صفحه ۳)
(۲) زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۲۷)
(۳) طبقات ابن سعد جلد ۱، صفحه ۱۵۳)
(۴) الخصائص الکبری جلد ۱، صفحه ۱۸۵، عیون الاثرجلد ۱، صفحه ۱۷۹)
(۵) کوموکفاروچې دنبی کریم ﷺ سرای محاصره کړی وو دهغوئ نومونه په لاندی ډول دی ابوجهل، حکم بن العاص، عقبه بن ابی معیط، نضربن حارث، امیه بن خلف، ابن عطیله، زمعة بن الاسود، طعیمه بن عدی، ابولهب، ابی بن خلف، نبیه بن حجاج، منبه بن حجاج، (طبقات ابن سعد جلد ۱، صفحه ۱۵۴)

وسپارل ورته وې فرمایل چې صبا سهار به دا امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارې.
ابوجهل خبیث دسرای دباندې پرپیر دارانو ګرزیدی او په خندا اخندا یې خلکوته ویل چې محمد ﷺ وایې چې که تاسو زما خبره ومنې نو په دنیاکې به دعربو او عجمو پاچهان سې او له مرګه وروسته به تاسو ته باغونه درکول کیږي او که پر هغه باندې ایمان نه راوړې نو په دنیاکې به زما په لاس ووژل سې او له مرګه وروسته به په دوزخ کې سوځول کیږې، نبی کریم ﷺ له کوره یو موټی خاوری راواخیستې او راووتې اووې فرمایل: هو زه همدغه وایم او ته هم یوله خلکو څخه یې چې په دنیاکې به زما د ملګرو له لاسه وژل کیږې او له مرګ وروسته به په دوزخ کې سوځل کیږې، او په هغه موټی خاوره باندې دسورة یسن لومړنی آیتونه تر ﴿وَجَعَلْنَا مِن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ﴾ ۹ آیت سورة یسین) پوری ولوستل او دکافرانو پر سرو باندې یې وپاشلې الله ددوئ پر سترګو پردې واچولې او نبی کریم ﷺ ددوئ ومخ ته تیرسو خو هیچا هم ونه لیدی (۱)
نبی کریم ﷺ چې کله له کوره ووتی نو سیده یې دابوبکر صدیق رضی الله عنه کورته تشریف راوړی او ابوبکر صدیق رضی الله عنه یې له ځان سره ملګری کی او د جبل ثور لاره یې ونیوله او هلته دواړه ولاړو او په غار کې پټ سوپه همدې وخت کې یو سړی د نبی کریم ﷺ د کورته خواته تیرسو له قریشویې پوښتنه وکړه چې تاسو ولې ولاړیاست او دچا انتظار کوې دوئ ورته وویل د محمد ﷺ انتظار کوو کله چې هغه راووزې نو موږ به هغه ځای پر ځای وژنو هغه سړی ور ته وویل الله جل جلاله دې تاسو وشرموی محمد ﷺ ستاسو پر سرو خاوری پاشلې دی او تللې دی ،دوئ تر سهاره انتظار وکی کله چې سهار سو علی رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ له بستری راپورته سو ،په همدې وخت کې دوئ یو ه بل ته وویل قسم په الله جل جلاله هغه سړی خو موږ ته ربښتیا ویلی وو او په ډیره شرمندګی یې له علی رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې محمد ﷺ چیری دی ؟ علی رضی الله عنه ورته وویل زه نه یم په خبر (۲) دا روایت په طبقات ابن سعد کې له علی رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنه او عائشه صدیقه رضی الله عنها او عائشه بنت قدامه رضی الله عنها و سراقه بن جعشم رضی الله عنه څخه نقل سوی دی .
قریشو ټوله شپه د نبی کریم ﷺ کور محاصره کړی وو مګر کورته دننه نه ورتلل ځکه عرب وهغه کورته نه داخلیدل چې په هغه کې به ښځې نبی کریم ﷺ چې کله له مکی ووتی نو د یوی غونډۍ له سره یې ومکی ته وکتل مکه یې ولیده او داسې یې وفرمایل :
(والله انک لخیر ارض الله واحب ارض الی الله ولولا انی اخرجت منک ماخرجت) ژباړه :قسم په الله جل جلاله ته تر ټولو غوره ځمکه یې او تر ټولو ځمکو د الله جل جلاله خوښه یې که زه نه ایستل کیدای نو نه تلم (ترمذی) حاکم فرمایې :چې دا حدیث د بخاری او مسلم په شرط باندې صحیح دی (۳

(۱) عیون الاثر جلد ۱ صفحه ۱۷۹) ــــ (۲) البدایه والنهایه جلد ۳، صفحه ۱۷۶) ــــ (۳) مستدرک جلد ۳، صفحه ۷)

سيف لودين كتابتون

له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت سوی چې نبی کریم ﷺ داسې وفرمایل :

ماطيب من بلد واحبک الی ولولا ان قومی اخرجونی ماسکنت غیرک (رواه احمد والترمذی وصححه) (۱)

ژباړه : ته څومره پاک ښاریې اوزماډیر خوښ یې که زه خپل قوم نه ایستلای نو مابل ځای داوسیدونه غوره کوی، داحدیث امام احمد او امام ترمذی روایت کړی دی او امام ترمذی دې حدیث ته صحی ویلی دی .

(ف) له دې حدیث دا ښکاره سو چې مکه مکرمه تر مدینه منوره غوره دی او دادجمهورو علماء قول هم دی ۱۲ دابوبکر رضی الله عنه مشری لور اسماء رضی الله عنها دسفر لپاره خوراک تیار کي دتلوار په وجه یې دپړی پرځای خپل کمربند دوه ځایه کی اولوښی یې په وتړل له همدغی ورځی څخه اسماء رضی الله عنها په ذات النطاقین ونومول سوه دابن سعد په روایت کې راغلی دی چې په یوه ټوټه یې دتوښې لوښی وتړل او په بله ټوټه یې داوبودژی خوله وتړله (۲)

او عبدالله بن ابی بکر رضی الله عنه دابوبکر صدیق رضی الله عنه ځوان زوی وو هغه به ټوله ورځ په مکه کې ګرزیدی خو کله چې به شپه سوه نو دشپې به راغلی غارثور ته او دقریشو خبرونه به یې دوئ ته راوړل او عامر بن فهیره دابوبکر صدیق رضی الله عنه ازادسوی مریئ وو ده به رمه پیول کله چې به ماخستن سو نو ددوئ وخواته به یې رمه راوستله رسول کریم ﷺ او ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته به یې دبزوشیدی ورکولی (۳) عبدالله بن اریقط لاره پیژندنکی وو (۴) نو موړی ته یې دلارې ښودلو مزدوری ورکړه چې موږ په پټه لاره مدینی ته ورسوه عبدالله بن اریقط که څه هم کافر او مشرک وو مګر رسول کریم ﷺ او ابوبکر صدیق رضی الله عنه په هغه باندی باور کړی وو (بخاری شریف باب الهجرة) اوښې یې هم هغه ته سپارلی وی او نوموړی ته یې ویلی وو چې دریمه ورځ جبل ثور ته راسه او له هغه ځایه به مدینی ته روانیږو ،

فایده :

لار په خپله نبی کریم ﷺ معلومه کړی وه او کافر ته یې مزدوری ورکړه له ځان سره یې ملګری کړددې لپاره چې دنبی کریم ﷺ داوښی مهار ونیسی له دې معلومه سوه چې که یو کافر دباور وړوی نو هغه ته مزدوری ورکول او کار په کول روا دی دغه کافر درسول الله ﷺ مزدورو معاذالله قائد او امیریې نه وو ددې حدیث څخه دکافر دمزدورې او کار جواز هم معلوم سو مګر دکافر او مشرک مشر او امیر جوړولو جواز هیڅ کله له دې حدیث نه ثابتیږی

(۱) زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۲۸)
(۲) طبقات ابن سعد جلد ۱، صفحه ۱۵۴)
(۳) البدایه والنهایه جلد ۳، صفحه ۱۸۴)
(۴) امام نووی فرمایی چې زه یه دی نه یم خبر چې عبدالله بن اریقط اسلام راوری که نه، وفاء الوفاء جلد ۱، صفحه ۱۶۹)

سیف لودین کتابتون

«««««« غار ثور »»»»»»

لنډه دا چې دوئ دواړه مبارکان له کوره راووتل او په شپه کې غار ثورته روان سو په دلائل بیهقی کې له محمدبن اسیرڅخه مرسلاً روایت سوی، چې کله رسول الله ﷺ دغار پر لور روان وو نو دهغه ملګری اوځان قربانونکی مخلص دوست اوصدیق اکبر ﷺ دډیری مینی اونا ارامی عجیب حال وابوبکرصدیق ﷺ به کله درسول الله ﷺ مخ ته تلی او کله به شاته سو اوکله به راسته خواته اوکله به چپه خواته سو بالاخره نبی کریم ﷺ پوښتنه ځنی و کړه چې اې ابوبکره ﷺ داڅه کوی چې کله مخکې ځی او کله شاته ځی او بیا په یوه دم راسته خواته سی بیا کیڼی خواته سی داڅه کوی؟ ابوبکرصدیق ﷺ وویل چې کله داپه فکر کې راسی چې هسی نه مخ ته څوک په کمین کې ناست وی نو مخ ته سم او کله دافکرراته پیدا سی چې څوک له شاراپسی رانه سی نو شاته سم او دغه رنګه یوه څنګ اوبل څنګ ته هم په همدې فکرکیږم، رسول الله ﷺ وفرمایل: اې ابوبکر ﷺ ستاهدف دادی چې ته به ووژل سی اوزه به روغ پاته سم؟ ابوبکرصدیق ﷺ وویل هو یارسول الله ﷺ زما په هغه پاک ذات قسم چې ته یې په حق رالیږلی یې زه همدا غواړم چې زه ووژل سم او ته روغ پاته سی، کله چې غارته ورسیدل نو ابوبکرصدیق ﷺ غوښتنه وکه یارسول الله ﷺ ته یو ځل ودریږه زه دننه ورځم ستالپاره غارپاکوم (حافظ عسقلانی داروایت راوړی دی وروسته وایې چې دغه شان دعبدالله بن ابی ملیکة او حسن بصری رحمة الله علیه څخه روایت سوی دی (۱)

په دلائل بیهقی کې له صبه بن محصن څخه روایت سوی چې دعمرفاروق ﷺ په مخکې چې به کله دابوبکرصدیق ﷺ یادونه وسوه نو عمرفاروق ﷺ به فرمایل چې دابوبکر صدیق ﷺ یوه شپه اویوه ورځ دعمر ﷺ ترټول ژوندعبادت ډیر غوره او بهتردی، شپه خو هغه دغارشپه، اوداقصه به یې بیان که هغه چې اوس تیره سوه او ورځ بیا هغه ورځ چې کله نبی کریم ﷺ وفات سو اودعربو ډیری قبیلی له اسلام ووتی او مرتدین سو په دغه وخت کې زه دابوبکرصدیق ﷺ په خذمت کې حاضرسوم اودحوصلی غوښتنه می ځنی وکړه ماورته وویل اې درسول الله ﷺ خلیفه ته له خلکوسره لږ نرمی وکړه اوله نرمی او زغم څخه کار واخله؟ ابوبکرصدیق ﷺ ماته په غصه سو اوداسی یې وفرمایل:

(جَبَّارٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وخوّارٌ فی الاسلام) ژباړه: اې عمره ﷺ ته خو دجاهلیت په وخت کې دلاوره اوزړوروې خواوس په اسلام کې بزدله سوی، ته داراته وایه چې ولی له دوئ سره نرمی وکوم رسول الله ﷺ وفات سو اووحی نوره نه راځی، قسم په الله ﷻ که داخلک درسی له ورکولو څخه انکاروکوی هغه چې درسول الله ﷺ په وخت کې به یې ورکوله او اوس یې نه ورکوی نوزه به له دوئ سره خامخا جهاد کوم، عمر ﷺ وایې بیامو ر دابوبکرصدیق ﷺ په

(۱) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۱۵۹

سیف لودین کتابتون

امرسره جهادوکي او الله ﷻ دابوبکرصدیق رضي الله عنه په ذریعه هغه ټول خلک کوم چې له اسلام اوښتی بیرته اسلام ته راوستل ، داده ابوبکرصدیق رضي الله عنه ورځ وه چې په دې باندې عمر رضي الله عنه دخپل ټول ژوند عبادت ورکولوته تیاروو (۱) داروایت دحاکم په مستدرک نامی کتاب کې هم یادسوی دی حاکم وایې چې که دا روا یت مرسل نه دی نوپه شرط دبخاری اومسلم باندی صحیح دی)حافظ ذهبی فرمایلی دی صحیحٌ مرسلٌ ،،

لومړی ابوبکرصدیق رضي الله عنه غارته ننوته سو اوترده وروسته نبی کریم ﷺ ورننوته سو او د الله ﷻ په حکم سره یوه غڼی (عنکبوت) دغارپرخوله باندی ځاله جوړه که ،، داروایت په طبقات ابن سعدکې له عائشه صدیقه رضي الله عنها اوابن عباس رضي الله عنه اوعلی بن ابی طالب رضي الله عنه اوعائشه بنت قدامه رضي الله عنها اوسراقه بن جعشم رضي الله عنه څخه په ډیرو سندوسره نقل سوی دی او په دوئ کې یوشمیرروایان دبخاری اومسلم راویان دی په مسنداحمدابن حنبل کې له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت سوی چې قریشوټوله شپه درسول الله ﷺ کورمحاصره کړی وو کله چې سهارسو اوعلی کرم الله وجهه یې ولیدی چې درسول الله ﷺ له بستری راپورته سو نودوئ درسول الله ﷺ په اړه پوښتنه ځنی وکړه چې محمد ﷺ چیری دی علی کرم الله وجهه ورته وویل چې زه نه یم خبر، دوئ هم سمدستی دنبی کریم ﷺ په لټون پسی هری خواته منډی وهلی په تلوتلوکې غارثورته ورسیدل اودغار په خوله کې یې دغڼی ټال یا ځالګی ولیده دوئ یوه اوبل ته وویل چې که محمد ﷺ دلته ننوتلای وای نودغارپه خوله کې به دغڼی ځالګی نه پاته کیدله، حافظ عسقلانی (۲) لیکي چې ددې حدیث سندحسن دی (۳) اوحافظ ابن کثیرپه البدایه والنهایه کې لیکي چې دغارپه خوله کې دغڼی ځاله جوړولوپه هکله چې څومره روایتونه راغلی دی په هغه ټولوکې دا روایت جیداوغوره روایت دی.

ابومعصب مکی وایې چې مادانس بن مالک رضي الله عنه اوزیدبن ارقم اومغیره بن شعبه رضي الله عنه څخه واوریدل دوئ ویل چې کله رسول الله ﷺ په غارثورکې پناه واخیسته نودالله ﷻ په حکم سره دغارو مخ ته یوه ونه راشنه سوه اودځنګلی کوترویوه جوړه راغلی هګۍ یې پکې واچولی مشرکین چې کله وغارته راورسیدل نودکوتری ځالګۍ یې ولیده بیرته ولاړل رسول الله ﷺ وفرمایل الله ﷻ دوئ زموږ څخه پربل لوری واړول سو (۴)

(۱) درمنثور جلد ۳، صفحه ۲۴۱)
(۲) دحافظ عسقلانی الفاظ دادی : ذکراحمدمن حدیث ابن عباس باسنادحسن ، اوحافظ ابن کثیردمسنداحمدمفصل روایت په اړه داسی وایې: وهذا اسنادحسن وهومن اجودماروی قصة نسیج العنکبوت علی فم الغار وذلک من حمایت الله ورسوله صلی الله علیه وسلم)
(۳) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۱۸۴)
(۴) طبقات ابن سعد جلد ۱، صفحه ۱۵۴)

سیف لودین کتابتون

داپیښه دحدیثوپه کتابوکې په مختلفوسندوسره روایت سوی په هرسندکې که څه هم یوشمیر راویان ضعیف دی مگر دټولوپه راټولو ځای کیدوقوت اوثقه والی راځي چې ودې ته دمحدثینوپه اصطلاح کې حسن لغیره وایې ، والله اعلم

په بخاري ، مسلم ، ترمذي ، مسنداحمدکې له انس ؓ څخه روایت سوی چې ابوبکر صدیق ؓ ماته بیان کړی دی چې کله زه اورسول کریم ﷺ په غارکې وو اوقریش زموږ په لټون پسی دغارتر خولی راورسیدل اودغارپرخوله ودریدل دغه وخت ماورسول الله ﷺ ته وویل :یارسول الله ﷺ که ددوئ څخه یوسړی وخپلوپښوته وگوری نوخامخا به موږ ووینی رسول الله ﷺ وفرمایل (ماظنک یا ابابکر باثنین الله ثالثهما) ژباړه :اې ابوبکرصدیق ؓ دهغه دووپه اړه ستاڅه خیال دی چې دهغوئ دریم الله جل جلاله دی ، یعنی موږدواړه یوائی نه یوبلکې دریم زموږسره الله تعالی دی هغه موږدخپلو دښمنانوله شره ساتی ،،

له زهری اوعروه بن زبیر ؓ څخه روایت سوی چې کله رسول الله ﷺ ابوبکرصدیق ؓ ولیدی چې ډیرغمجن دی نوداسی یې ورته وفرمایل (لَاتَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا) ته مه خفه کیږه یقیناً الله جل جلاله له موږسره دی،اودابوبکرصدیق ؓ دتسلی لپاره یې دعاهم وکړه بیاد الله جل جلاله له لوری په ابوبکرصدیق ؓ باندی یوخاص ډاډ اوارام اوخاص اطمینان نازل سو په دې اړه الله جل جلاله فرمایې :إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (٤٠) آیت سورة توبه

ژباړه :کله چې دوئ دواړه په غارکې وونوپیغمبر ؑ خپل ملگری ته وفرمایل هیڅ غم مه کوه یقیناً الله جل جلاله زموږسره دی بیاالله جل جلاله سکون اوډاډ نازل کی اودوئ ته یې په داسی لښکر قوت ورکی چې هغه تاسونه دی لیدلی اودکافرانوخبره یې لاندی که اودالله جل جلاله خبره خوهمیشه لوړه وی اوالله جل جلاله غالب اوحکیم ذات دی .

پټ رازونه اوحکمتونه ! او داذهمافی الغار تحقیق اوڅیړنه :

تحقیق نزول آیت الغارفی شان سیدالابرار علیه افضل الصلوات واکمل التحیات وعلی آله وازواجه الطاهرات وعلی اصحابه الذین هم کانوا نجوم الهدایة للبریات لاسیماعلی صاحبه فی الغار وفی الحیات وبعد رفیقه فی الدنیا وصاحبه علی الحوض وفی روضات الجنات)

مخکې تردی چې موږدآیة الغارحکمتونه وڅیړو دامناسب بولوچی ټول آیت له ترجمی سره راوړل سی ددې لپاره چې کتونکی اولوستونکي په دې پوه سی چې په دې آیت کې کوم حکمتونه اورازونه پټ دی :آیت داسی دی :

إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (سورة توبه آیت ٤٠)

ژباړه : که تاسو د رسول الله ﷺ مرسته نه کوی نو څه به وسی الله ﷻ دده مرسته له مخکې لا کړی ده په هغه وخت کې هم موږ دده مرسته وکړه کله چې دئ په غار کې وواوده خپل ملګری ته وویل ته مه خفه کیږه ربښتیا هم الله ﷻ له موږ سره دی یعنی په دغه سفر کې یوائې دوه وو یو رسول الله ﷺ او بل دده ملګری ابوبکر صدیق ؓ له نو موړی پرته بل سړی نه وو چې له هغه یې د مرستی غوښتنه کړی وای کله چې هغه خپل ملګری ته وویل ته مه غمجن کیږه او پر دې یقین ساته چې الله ﷻ له موږ دواړو سره دی بیا الله ﷻ پر هغه باندی خپل سکون ، ډاډ او ارام نازل کی او په داسی لښکریې ددوئ مرسته وکړه چې هغه تاسو نه لیدی یعنی پرته له ښکاره سببه یې د ملائکه وو په فوځ سره د غار ثور ساتنه وکوله او الله ﷻ د کافرانو خبره کښته کړه دوئ ناکام او شرمیدلی بیرته له غاره ولاړو او د الله ﷻ خبره تل لوړه وی او الله ﷻ غالب او حاکم ذات دی چې هغه خپل نبی ﷺ او دهغه ملګری د دښمنانو له منګولو وژغورل او په امن یې و مدینی منوری ته و رسول

الله ﷻ په دې آیت کې د ابوبکر صدیق ؓ چې کوم فضیلتونه او خصوصیتونه بیان کړی دی په دې امت کې هیچا ته هم دهغو لسمه دلسمی برخه نه دی نصیب سوی ، او س موږ د ابوبکر صدیق ؓ هغه فضیلتونه چې له دې آیت څخه ثابتیږی په کوتاه ډول بیانه وو

(۱) کفارو چې کله د رسول الله ﷺ په شهادت باندی پریکړه وکړه او په اتفاق سره ټولو دهغه د شهید کولو ټینګ عزم او هوډ وکی نو رسول الله ﷺ د الله ﷻ په حکم سره دهجرت اراده وکوله او د الله ﷻ په امر یې ابوبکر صدیق ؓ له ځان سره ملګری کړ نو که د الله ﷻ په نزد ابوبکر صدیق ؓ مخلص او ربښتینی مؤمن او دنبی کریم ﷺ ربښتینی عاشق نه وای نو په داسی نازک وخت کې به الله تعالی هیڅ کله د ابوبکر صدیق ؓ دملګری اجازه نه وه ورکړی او بل دا چې په خپله نبی کریم ﷺ که د ابوبکر صدیق ؓ په ربښتینوالی او محبت او عشق او پوره اخلاص باندی پوره باور نه درلودی نو هیڅکله به یې ابوبکر صدیق ؓ په داسی خطرناک او نازک سفر کې د ځان ملګری کړی نه وو ، معاذالله ، معاذالله د الله ﷻ رسول ﷺ خو داسی نه دی چې خپل دوست او دښمن منافق او صادق یې نه پیژندل په داسی نازک وخت کې د ابوبکر صدیق ؓ ملګری ددې خبری شاهدی ورکوی چې رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق ؓ د خپل ځان یو ځانګړی دوست او ځان قربانونکي عاشق او غم خوړونکی ملګری شمیری او د رسول الله ﷺ په اړه د الله ﷻ ارشاد دی :

فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيمَاهُمْ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ الْقَوْلِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَعْمَالَكُمْ (۳۰) آیت سورة محمد)

الله تعالی رسول الله ﷺ ته داسی لوړ فراست او نور ورکړی وو چې منافق به یې پر مخ او خبرو پیژندی چې دا منافق دی که موږ د فرض محال په ډول دا فرض کو لکه شیعګان خبیثان چې وایې چې ابوبکر منافق وو (العیاذ بالله) نو بیا رسول الله ﷺ باندی دهغه نفاق

سيف لودين کتابتون

ځنګه پټ پاته کیدی او که دا فرض کړو چی پر رسول الله ﷺ پټ پاته سوی وو نو پر الله ﷻ علام الغیوب باندی څنګه پټ پاته سو چی هغه خپل پیغمبر ته په هجرت کې دیو منافق د ملګری حکم و کی، العیاذ بالله)

(۲) دعلی کرم الله وجهه او حسن بصری او سفیان بن عیینة رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چی په دې آیت کې الله ﷻ د رسول الله ﷺ په نه مرسته کولو باندی ټول عالم ته عتاب ورکړی دی مګر یوائې ابوبکر صدیق رضی الله عنه له هغه څخه وتلی دی او یوائې وتلی نه بلکې په داسی نازک وخت کې د رسول الله ﷺ ملګرتیا او رفاقت او معیت یې دصفت په ډول یاد کړی دی.

(۳) ثَانِيَ اثْنَيْنِ؛

الله ﷻ د ثانی اثنین په لفظ دا بیان کړه چی د رسول الله ﷺ څخه وروسته په مرتبه کې دویم سړی ابوبکر صدیق رضی الله عنه دی امام قرطبی لیکي چی د ثانی اثنین لفظ د دې خبری دلیل دی چی له نبی کریم ﷺ څخه وروسته خلیفه به ابوبکر صدیق رضی الله عنه وی ځکه خلیفه د باچا دویم وی (تفسیر قرطبی جلد ۸، صفحه ۱۴۷)

له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چی یوه ورځ نبی کریم ﷺ حسان بن ثابت رضی الله عنه ته وویل چی آیا تا د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په اړه هم شعر ویلی دی؟ حسان رضی الله عنه وویل هو، نبی کریم ﷺ وفرمایل ته یې راته و وایه زه یې اورم حسان رضی الله عنه دا شعر ورته ولوستی:

وثانی اثنین فی الغار المنیف وقد ::::::::::::::::::::::: طاف العدو به اصعد الجبلا

وکان حب رسول الله ﷺ قد علموا ::::::::::::::::::::: من البریة لم یعدل به رجلا

اخرجه ابن عدی وابن عساکر من طریق الزهری عن انس رضی الله عنه

(۴) اِذْهُمَا فِي الْغَارِ!

الله ﷻ په اذهما فی الغار لفظ سره د ابوبکر صدیق رضی الله عنه ملګری بیان کړه او دغار د ملګری مثال له همدې وخت جاری سو ځو ک چی د ملګری مرسته وکوی هغه ته په محاوره کې دغار ملګری وایې:

(۵) لِصَاحِبِهِ!

الله تعالی د لصاحبه په لفظ سره د ابوبکر صدیق رضی الله عنه صحابیت بیان کی او ټول شیعه ګان او سنیان پر دې خبره یوه خوله دی چی په آیت کې د لصاحبه څخه مراد ابوبکر رضی الله عنه دی، او په عربی ژبه کې د صاحب لفظ د صحابی په معنی دی، د صحابی او صاحب په معنی کې هیڅ فرق نسته او دا مرتبه یوائې ابوبکر رضی الله عنه ته نصیب دی چی الله تعالی د هغه صحابیت په قرآن کې یاد کړی دی په دې وجه علماء ویلی دی چی د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د صحابیت څخه انکار کونکی د قرآن کریم د دې آیت اذیقول لصاحبه څخه منکر دی او له قرآن څخه انکار کفر دی او پر دی بناء د کوم صحابه رضی الله عنه صحبت چی په احادیثو متواتره او اجماع سره

سیف لودین کتابتون

ثابت وی دهغوئ هم همدغه حکم دی البته دکوموصحابه صحابیت چی په خبرواحد سره ثابت وی دهغوئ له صحابیت څخه منکرته کافرنه ویل کیږی بلکې مبتدع یعنی فتنه خورونکي ورته ویل کیږی دابوبکرصدیق رضی الله عنه په مخ کې یوسړی دسورة توبه تلاوت کوی کله چی ودې آیت ته ورسیدی ،اذیقول لصاحبه لاتحزن ، نوابوبکرصدیق رضی الله عنه وژړل اوداسی یې وفرمایل قسم په الله ﷺ همداصاحب زه یم .

(۶) لَاتَحْزَنْ !

کله چی دمکی مشرکین درسول الله ﷺ په لټون پسی غارته ورسیدل نودننه په غارکې دابوبکر رضی الله عنه سترګی په دوئ باندی ولګیدی ، وې وژړل ده وفرمایل چی یارسول الله ﷺ که زه مړسم نویوسړی به وفات سی مګر ددښمنانوپه نصیب که ستاشهادت سی نوټول امت به هلاک سی په همدې وخت کې نبی کریم ﷺ دابوبکرصدیق رضی الله عنه دتسلی لپاره وفرمایل :

لَاتَحْزَنْ اِنَّ اللهَ مَعَنَا : ، ته مه خفه کیږه یقینا الله ﷻ له موږسره دی (روض الانف جلد ۲، صفحه ۴)

حضرت مولانا محمدقاسم نانوتوی رحمة الله علیه (ددارالعلوم دیوبند مؤسس) په هدیة الشیعة کې لیکلی دی چی دلاتحزن لفظ معنی دادی چی ته مه غمجن کیږه ،

دالفظ دابوبکرصدیق رضی الله عنه پرربښتینوالی اوایمان اواخلاص باندی دلالت کوی که داسی نه وی نودنه خفګان څه اړتیاوه بلکې دشیعه خبیثانو دعقیدی موافق معاذالله که ابوبکر صدیق رضی الله عنه درسول کریم ﷺ دښمن وای نودده دخوشالۍ وخت وو ځکه رسول الله ﷺ دده په واک کې وو سمدستی به یې دښمنان راغوښتی وای ددې لپاره نعوذبالله چی هغوئ خپل کارسرته ورسوی ددښمنانولپاره تردې غوره وخت نه وو مګر چیر ی دی دانصاف سترګی دوئ په غارکې یواځی و ودته په دغه وخت کې دقتل ډیرښه وخت په لاس ورغلی وو هلته چاپوښتنه کوله قتل کړی به یې وو اوچیری به تللی وای (معاذالله) اوابوبکرصدیق رضی الله عنه خپل زوی عبدالله رضی الله عنه دغارثوردباندی وومکی ته تلی اوراتلی دهغه په ذریعه به یې دښمنان خبرکړی وای ، یااسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها هغه چی غارته یې خوراک راوړی دهغې په ذریعه به یې دښمنان خبرکړی وای که دخاندان صدیق لږ څه دښمنی هم وای نوخپل ځان اومال به یې په رسول الله ﷺ نه ځاروی .

لنډه داچی دابوبکرصدیق رضی الله عنه خفه کیدل اوددښمنانوپه لیدوسره دهغه ژړل داټول درسول الله ﷺ په عشق اومینه کې وو که ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته دخپل ځان ویره وای نودحزن لفظ پرځای به دخوف ټکی استعمال سوی وو ځکه په عربی ژبه کې دحزن لفظ دغم پرځای اودمعشوق په بیلوالی یادهغه دفوت کیدوپه ځای کې استعمالیږی ، لکه دموسی علیه السلام په قصه کې چی کله هغه دطورغره ته ولاړی اوپیغمبری ورکړل سوه نوالله ﷻ موسی علیه السلام

سیف لودین کتابتون

نولوی مارځنی جوړسو موسی ؑ وبیریدی اوپه منډه سو شاته یې هم ونه کتل په همدې وخت کې الله ﷻ ورته وفرمایل : یَا مُوسَىٰ لَا تَخَفْ إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُونَ (۱۰) آیت سورة النحل

اې موسی ؑ مه بیریږه له ماسره زمارسولان نه بیریږي .

له دې څرګندیږي چې موسی ؑ له دې ماره پرخپل ځان وویریدی نومنډه یې که په دې وجه الله تسلي ورکړه چې مه بیریږه اوداسې یې نه ورته وفرمایل : چې (لاتحزن) یعنی مه غمجن کیږه ځکه داد غم ځای نه وو بلکې دوهم ځای وو اودغه رنګه موسی ؑ چې کله یو قبطي ووژنی اودفرعون خلکو دده دوژلو اراده وکړه نوموسی ؑ له هغه ځایه ولاړی ، په همدې وخت کې الله ﷻ ورته فرمایې : فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا (۲۱) آیت سورة القصص

یعنی موسی ؑ له هغه ځایه په بیره سره ووتی .

اوډیرځایونه دخوف لفظ دالله ﷻ په کلام کې راغلی دی هلته همدغه معنی ځنی اخیستل کیږي اوپه کوم ځای کې چې دغم ځای وی نوهلته بیادحزن لفظ استعمال سوی دی : لکه په سورة یوسف کې چې کله دیوسف ؑ ورونونویعقوب ؑ ته وویل موږپردې بیریږو چې دیوسف ؑ په غم کې مړنه سې نویعقوب ؑ داسې وفرمایل :

قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ (۸٦) آیت سورة یوسف

یعقوب ؑ وویل زه خپل غم اوخفګان الله ﷻ ته کوم اوزه په هغه څه خبریم چې تاسونه پوهیږي

په دې آیت کې دحزن لفظ فرمایلی دی اودخوف لفظ یې نه وفرمایل اوله دې پرته په نوروډیروآیاتوداثابته سوی چې دحزن معنی جلااوبیله دی اودخوف معنی بیله ده .

تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا (۳۰) آیت حم سجدة

یعنی کله چې مؤمن مړکیږي نودرحمت ملائکه وی په هغه باندی نازلیږي اوداورته وایې چې مه بیریږه اومه غمجن کیږه ..

که دحزن اوخوف یوه معنی وای نوددوه ځله یادولوڅه اړتیاوه صحی خبره دادی چې حزن اوخوف سره بیل دی ، خوف دې ته وایې چې دراتلونکی شئ څخه وبیریږي اوحزن دادی چې اوس دستي دزړه اطمنان اوډاډ له لاسه ووزی ، اوبل داچې غم دخوشالی په مقابل کې راځی مثلاً که دچایوخپل مړسی نوپه هغه باندی چې کوم حالت راځی هغه ته غم وایې ، هیڅوک هم خوف نه ورته وایې ، اوکه دچازوی ودیوال ته وخیژی اودهغه درالویدوویره وی نوودې حالت ته ویره وایې غم نه ورته وایې هیڅ یوناپوه هم دې ته غم نه وایې دمصیبت په وخت کې چې کوم حالت وی هغه ته غم وایې او دمصیت راتلو په حا لت کې وهغه کیفیت ته غم وایې اوکه دشیعګانو خبیثانودزړه خوشالولولپاره (لاتحزن) هم په معنی دلاتخف واخلو بیاهم زموږ چندان تاوان نسته ځکه په دې صورت کې به

سیف لودین کتابتون

رضي الله عنه پرخپل ځان نه ویریدی ځکه دکافرانو خوله دوئ دواړوسره دښمنی وه اوهغه دښمنی داسلام اوایمان په وجه وه نودرسول الله ﷺ دتسلی ورکولو څه ضرورت وو اوبیاهغه هم دومره چی الله جل جلاله زموږسره دی .

(۷) اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا!

رسول الله ﷺ دلاتحزن له ویلو وروسته ابوبکرصدیق رضي الله عنه ته تسلی ورکه چی الله جل جلاله له موږ سره دی ته مه ناامیده کیږه اومه غمجن کیږه یقیناً الله جل جلاله له موږسره دی یعنی دالله جل جلاله مرسته له موږسره دی اوښکاره خبره ده چی الله تعالی دمسلمانانو ساتنه اومرسته کوی ،

اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ : اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ : اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُحْسِنِيْنَ) له داسی کلماتوڅخه دالله تعالی کلام ډک دی کله چی الله تعالی د اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا.. په ضمن کې داخبر ورکړ چی له ابوبکرصدیق رضي الله عنه سره هم کفاردښمنی لری که داسی نه وی نورسول الله ﷺ ولی هغه ته تسلی ورکوله اوالله جل جلاله به ولی له دوئ سره یوځای وو اوموږته خودومره هم ډیره ده چی الله تعالی له هغه سره داسی دی لکه څنګه چی له رسول الله ﷺ سره دی ځکه الله تعالی دمعیت په لفظ (مَعَنَا) سره ددواړو کومک بیان کړی دی اودوه لفظونه یې نه دی ویلی یعنی داسی نه دي فرمایلی ان الله معی ومعک ، چی دهغه دامعنی دی چی له ماسره هم دی اوله تاسره هم دی نوله دي څخه خبره نوره هم ښه روښانه سوه چی لکه څنګه چی الله عزوجل درسول الله ﷺ سره وو همدغه شان له ابوبکرصدیق رضي الله عنه سره هم وو ، اوبل داچی اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا جمله اسمیه دی اوجمله اسمیه پردوام اوهمیشه والی دلالت کوی چی دهغې معنی داسی کیږی چی دالله جل جلاله ملګرتیاهمیشه له دوئ سره ده ، اوالله جل جلاله به هیڅری هم له دوئ نه بیلیږی .بالفرض که داجمله په همیشه والی اودوام دلالت نه کوی نودومره خوشیعه خبیثانوته منل ضروری دی چی په هغه خاص وخت کې خورسول الله ﷺ اوابوبکر صدیق رضي الله عنه دواړه دالله جل جلاله په ملګری کې شریک وو اوداهیڅکله نه سی کیدای چی الله جل جلاله درسول الله ﷺ څخه بیل اوجلاسی اودهغه ملګری اوطرف پریږدی ، نوپه ان الله معناکې به دابوبکرصدیق رضي الله عنه برخه همیشه وی ځکه ددواړوبرخی یوځای دی بیلی نه دی ، دواړې دمَعَ په لفظ پریوه ځای بیان سوی دی دهریوه دپاره یې بیل بیل دمَعَ لفظ نه دی استعمال کړی یعنی ومعی ومعک یې نه وفرمایل ، دارنګه په ان الله معناکې ودې ته اشاره دی چی دالله جل جلاله ملګری درسول الله ﷺ اوابوبکرصدیق رضي الله عنه له ځان سره په هیڅ شرط باندی تړلی نه ده ځکه که له لاتحزن څخه وروسته ان الله مع المؤمنين یې فرمایلی وای نوداګمان به کیدی چی دالله جل جلاله ملګرتیاپه ایمان مشروط دی کله چی ایمان ولاړی نوملګرتیاهم ورسره ولاړه اوپه هغه صورت کې چی ملګرتیاپرته له څه شرط څخه وی نوهغه دائمی اوهمیشه اوتل پاتی وی په هغه کې دزوال احتمال اوبوی هم نه وی

سیف لودین کتابتون

حاصل :لکه څنګه چې الله تعالی اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا وفرمایل او اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ او داسې نور کلمات چې پر صفت دلالت کوي ونه فرمایل نوله دې معلومه سوه چې د الله تعالی ملګري دابو بکرصدیق رضی الله عنه له ځان سره ده په هیڅ صفت سره مشروط نه ده ،داتقریردمو لانانانوتوی رحمة الله علیه دخبروخلاصه دی که موتفصیل په کاروی نواصل کتاب هدیة الشیعة ته رجوع وکوی

فرعون چې کله موسی علیه السلام ته نژدی سو نوپه دغه وخت کې دموسی علیه السلام ملګرو موسی علیه السلام ته وویل :اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ،یعنی بیشکه موږ ونیول سو ،موسی علیه السلام ددوئ په ځواب کې وفرمایل : كَلَّا اِنَّ مَعِيَ رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ .. هیڅ کله داسی نه سی کیدای یقینازماپالونکی له ماسره دی هغه به ماته دخلاصون لاره ښیي.

موسی علیه السلام دالله جل جلاله ملګرتیادمفردپه صیغه بیان که یعنی معی یې وفرمایل یعنی الله عزوجل زماسره دی او مَعَنَا په صیغه دجمع یې ونه فرمایل چې دهغې معنی دی چې رب عزوجل له موږسره دی لنډه داچې موسی علیه السلام دالله جل جلاله ملګرتیادخپل ځان سره خاص که خپلو ملګرو ته یې په دې ملګرتیاکې هیڅ برخه ورنه کړه ، اونبی کریم ﷺ لاتحزن ان الله معنا کې دجمع صیغه استعمال که یعنی اې ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته مه غمجن کیږه بیشکه الله جل جلاله له موږدواړوسره دی ، هغه دالله جل جلاله ملګرتیاپه خپل ځان پوری خاص نه کړه بلکې خپل خا ص دوست اوملګری اوصدیق یې هم په معیت کې شریک کی، اوهمدارنګه دموسی علیه السلام ملګرتیا دربّ ملګرتیاده هغه چې موسی علیه السلام دربّ په نامه سره یادکړی دی (اِنَّ مَعِيَ رَبِّيْ) زماسره زمارب دی اودنبی کریم ﷺ اوابوبکرصدیق رضی الله عنه ملګرتیااومعیت الهیه بیانبی کریم ﷺ دالله په نامه سره یادکی (اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا) یعنی یقیناً الله جل جلاله له موږسره دی ، نبی کریم ﷺ دالله جل جلاله معیت په اسم جلیل اواسم اعظم سره یادکی چې دټولوصفاتودکمال جامع دی اوموسی علیه السلام دالله ملګری درب په نامه سره یاده کړه

(هذا توضیح وتشریح ماقاله العارف اللبان قدس الله روحه ومتعنا بعلومه وبرکاته آمین ثم آمین)

(۸) فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ

یعنی الله جل جلاله په هغه باندی سکون اوآرام نازل کی اوبیایې دهغه په برکت سره ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته هم له دې څخه برخه ورکه ، لکه دبیهقی په یو روایت کی چې راغلی دی ، چې نبی کریم ﷺ دابوبکرصدیق رضی الله عنه دپاره دعاوکړه ، نوپه همدې وخت کې دالله جل جلاله له لوری په ابوبکرصدیق رضی الله عنه باندی ډاډاوآرام نازل سو (خصائص کبری جلد ۱ صفحه ۱۸۵)

ابن عباس رضی الله عنه فرمایې :له سکون څخه مراداطمینان دی علامه هروی لیکي سکون دیوخاص شی نوم دی چې درې شیان په ده کې یوځای کیږی اول نور دویم قوت دریم روح په نورسره زړه روښانه کیږی دایمان دلائل اودیقین حقائق ورته ښکاره کیږی اوپه قوت سره په زړه کې عزم اواستقلال پیداکیږی ، دالله تعالی دبندګۍ په وخت کې دته خاص

سيف لودين كتابتون

خوشالي حاصلیږي او د همدې قوت له امله زړه د نفس د ټولو غوښتنو په مقابله کې غښتلی او بریالی کیږي او په روح سره په زړه کې ژوند پیدا کیږي چې د هغه له امله زړه د غفلت له خوبه راویښیږي او د الله ﷻ په لاره کې چست او چالاکه کیږي

په بخاري او مسلم کې راغلي دي چې د خندق په غزا کې رسول الله ﷺ د عبد الله بن رواحه رضی الله عنه دا شعر لوستی : اللهم لولا انت ما اهتدینا

ولا تصدقنا و لا صلینا

فانزلن سکینة علینا

اې الله ﷻ که ستا توفیق نه وای نو موږ به لاره نه وه پیدا کړې او نه به مو خیرات ورکول او نه به لمونځونه کول ، نو ته خپل خاص آرام او اطمینان په موږ باندې نازل که ، د تفصیل لپاره مدارج السالکين جلد ٢ صفحه ٢٧٨ ته رجوع وکوی .

مشهور قول دادی چې د عَلَيْهِ ضمیر نبي کریم ﷺ ته راجع دی ، او له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې د علیه ضمیر ملګری یعني ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته راجع دی ځکه چې لفظ د صاحب نږدې او ضمیر نږدې ته راجع کول ښه دي تر لیرې مرجع ، او بل دا چې د فَاَنْزَلَ فاء هم پردې دلالت کوي چې پر لاتحزن باندې تفریع دی او په دې صورت کې به مطلب داوی چې کله ابوبکر صدیق رضی الله عنه غمجن سو نو الله تعالی پر ده باندې خپل آرام او ډاډ نازل کی ، د دې لپاره چې زړه ته سکون ورسیږي او د ده غم او پریشاني لیرې سي (روح المعاني جلد ١٠ ، صفحه ٢٧ ، روض الانف جلد ٢ ، صفحه ٥)

او امام رازي رحمة الله عليه په تفسیر کبیر کې دا قول غوره کړی دی چې د فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهُ عَلَيْهِ کې د علیه ضمیر ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته راجع دی علامه سهیلي وایې چې د ډیرو مفسرینو په نظر د علیه ضمیر ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته راجع دی ځکه نبي کریم ﷺ ته خو مخکې لا اطمینان حاصل و وخو د یو شمیر علماء په نظر د علیه ضمیر نبي کریم ﷺ ته راجع دی او ابوبکر صدیق رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ په اتباع په کښې داخل دی او د حفصه په مصحف کې دا سې راغلي دي (فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَةً عَلَيْهِمَا) د علیه پر ځای عَلَيْهِمَا په ضمیر د تثنیه سره راغلی دی

(٩) وَاَيَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا

قوت یې ورکی په داسې لښکرسره چې تاسو نه دي لیدلي ، یعني الله تعالی په غار ثور باندې د ملائکه و وپیره ودروله چې د هغه له کبله د مشرکانو په زړو کې داسې ویره ولویدله چې غار ته د داخلید و همت یې نه درلود ی ، لکه د اصحاب کهف پر غار باندې چې د الله ﷻ له لوري یو خاص ویره پرته ده چې د هغې له امله هیڅوک په هغه غار کې د ننوتلو جرأت نه سي کولای لکه چې الله تعالی فرمایي :

لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا (۱۸) آیت سورة الکهف}

لکه چې ددې په تائید په معجم طبراني کې له اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها څخه روايت سوی چې کله قریش درسول الله ﷺ په لټون کې وغارته ورسیدل نو ابوبکرصدیق رضي الله عنه وویل یارسول الله ﷺ داسړی چې غارته مخامخ ولاړدی موږ به خامخاويني ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : هیڅکله داسی نه دی فرشتو موږ په خپلو وزروکې پټ کړی یو ، په دې وخت کې هغه سړی وغارته مخامخ دبولو لپاره کښینستی ، رسول الله ﷺ ابوبکرصدیق رضي الله عنه ته وفرمایل : دې سړی که موږ لیدلای نو موږ ته مخامخ به دمتیازولپاره نه کښینستی (۱)

او په مسندابی یعلی کې عائشه صدیقه رضي الله عنها له ابوبکرصدیق رضي الله عنه څخه همدا روايت کړی یوشمیرعلماء د (وَاَیَّدَہٗ) ضمیرهم ابوبکرصدیق رضي الله عنه ته راجع کړی چې ددې تائیددانس بن مالک رضي الله عنه په یوروایت سره کیږی په هغه کې داسی راغلی دی : چې نبی کریم ﷺ داسی وویل : یااباابکر ان الله انزل سکینته علیک وایدک الخ (۲) ژباړه :اې ابوبکرصدیق رضي الله عنه الله جل جلاله پرتاباندی خپل آرام او اطمینان نازل کی اوتاته یې مرسته ورسوله

(۱۰) وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (سورة توبه آیت ۴۰)

اوالله جل جلاله دکافرانو خبره ښکته که اوددوئ تدبیریې ناکامه کی چې دغاردخولې څخه یې دښمنان پرته وهدف ته له رسیدلو بیرته وشړل اوپه غیبی مرسته یې دهغه ساتنه وکړه ، دملائکه وو پیره یې پرغارودروله اود غنې په تال یاځاله اوداسی کور چې اوهن البیوت په ټولو کوروکې کمزوری کورورته ویل سوی دی په هغه یې داوسپینی ترکلازیات خوندی کی، اوداالله جل جلاله خبره همیشه لوړه وی الله جل جلاله خپل نبی ﷺ سره له ملګری روغ رمټ مدینې منورې ته ورسوی اوپه لاره کې سراقه ددوئ دګیرولو په نیت دوئ ته ورسیدی خو هغه په خپله درسول کریم ﷺ داطاعت په دام کې بندی سو بلکې دتل لپاره دهغه مریئ سو اوالله جل جلاله غالب اوحکیم ذات دی دهغه قدرت اوحکمت په هرڅه باندی غالب دی اودا هرڅه داالله عزوجل دغیبی مرستی اوملګرتیااودملائکه ودراوړی سکون آثروو اونیک خلک په دې ښه پوهیږی، چې دغارملګری اوځان ځارونکې دوست داالله جل جلاله دپیغمبر ﷺ په ملګرتیاکې داالله جل جلاله ملګرتیا اوسکون اواطمینان اودملائکه و په تائیدکې برخه درلوده ، دهغه منافقت اومرتدکیدل ناشونی اومحال دی ، اوبیاچې الله جل جلاله دهجرت په سفرکې پرته له ښکاره اسبابو دخپل نبی ﷺ ساتنه وکړه اوپه نورو ځایو کې یې هم دخپل نبی ﷺ ساتنه وکړه ددې لپاره چې خلک دافکرونه کړی چې الله جل جلاله دخپل نبی اودنبی دملګری دساتنې لپاره دچاکومک اومرستی ته اړاو محتاج دی

سیف لودین کتابتون

خلاصه :دادی چی الله تعالی په دې آیاتوکې دهجرت په سفرکې دابوبکرصدیق ﷛ دملګرتیاقصه چی په کوم شان سره بیان کړی ده دادده دفضیلت اودده دسربښندنی سند اوشهادت دی چی دده مبارک متعصبو دښمنانو هم په دې اقرارکړی دی ،مصنف دلته دحمله حیدری اشعارراوړی دی هغه موږ پرېښودل معذرت غواړوځکه ټوله فارسی وه له دې ټولوروایاتو داثابته سوه چی نبی کریم ﷺ په دې خطرناک سفرکې ابوبکرصدیق ﷛ له ځان سره ملګری کړ لومړی دابوبکرصدیق ﷛ کورته ولاړی اودهغه له کوره دواړه روان سو اوابوبکرصدیق ﷛ رسول الله ﷺ په خپله اوږه باندی واخیستی لومړی خپله ابوبکرصدیق ﷛ غارته کښته سو اوهغه غارېې پاک کې اوخپله لنګوټه یې ښیری که په هغې باندی یې سوری بندکړه یوسوری پاته سو هغه یې دخپلی پښی په تله بندکی داټول کارونه دابوبکرصدیق ﷛ پرصداقت رښتینوالی اخلاص عشق اومحبت دلالت کوی اوښکاره دهغه دربښتینوالی دلائل دی نه دنفاق اودښمنی که دشیعه ګانوخبیثانوپه نزد دادمنافقت نښې وی نوبیادصداقت اوعشق اومینی کومی نښی دی اوبل داچی درې ورځی هغه په غارکې وو اوخوراک به دابوبکرصدیق ﷛ له کوره راتلی اوکله چی دریمه ورځ دابوبکرصدیق ﷛ زوی دوې اوښې وغارته راوستلی نوپریوه اوښه نبی کریم ﷺ سپورسو اوپربله عامر بن اریقط سپورسو هغه چی دابوبکرصدیق ﷛ آزادسوی مریئ وو په دې طریقه مدینی منوری ته روان سو ،

درې ورځی رسول الله ﷺ په دغه غارکې وو عبدالله بن ابی بکر ﷛ (۱) به ټوله ورځ په مکه کې اوسیدی اودمشرکینوخبرونه به یې دشپې دوئ ته راوړل اودهغوئ ټول حالات به یې ورته بیانول اوسهاروختی به بیرته له دغه ځایه وتی اوعامربن فهیره (۲) چی دابوبکر صدیق ﷛ ازادسوی مریئ دی هغه به ماخستن مهال چی کله به ښه تیاره سوه نوبزی به یې راوستی اودغارخولی ته به راغلی دوئ ته به یې دارتیاپه اندازه شیدی ورکړی اودعبدالله بن ابی بکر ﷛ پلونه به یې هم خرابول په دې طریقه یې درې شپې تیری کی له دروشپووروسته عبدالله بن اریقط (۳) داهغه سړی دی چی دلاری دښودلودپاره په

(۱) عبدالله بن ابی بکر ﷛ دابوبکرصدیق ﷛ زوی دی په اسلام مشرف سوی دی دخپل پلاردخلافت په وخت کې ترپلارمبارک مخکې وفات سوی دی (اصابه جلد ۲، صفحه ۲۸۳) (۲) عامربن فهیره ﷛ دبل چامریئی وو ابوبکرصدیق ﷛ رانیوی اوآزادیې کی دبدر اواُحدپه غزاوو کې شریک سوی دی اودبیرمعونه په غزاکې شهیدسو اودده بدن مبارک اسمان ته پورته سو اوبیرته پرځمکه کېښودل سو (اصابه وغیره) (۳) حافظ عبدالغنی مقدسی اوعلامه سهیلی اوعلامه نووی لیکي چی موږته په کوم صحیح سندسره دعبدالله بن اریقط اسلام نه دی معلوم سوی اوهمداصحیح ده البته واقدی دهغه دمسلمان کیدوقائل دی والله سبحانه وتعالی اعلم ، زرقانی جلد۱ ، صفحه ۲۳۹ ترصفحی ۲۷۴)پوری)

(۳) عبدالله بن ابی بکر ﷛ په مکه کې پاته سو اوعبدالله بن اریقط دلاری دښودلودپاره له دوئ سره مدینی ته ولاړی له مدینی منوری څخه بیرته مکی ته راغلی اودهغه دواړو مبارکانوپه خیرسره درسیدلوخبرېې عبدالله بن ابی بکر ﷛ ته ورکی له دې خبره وروسته عبدالله بن ابی بکر ﷛ دصدیق ﷛ ټوله کورنی له ځان سره مدینی منوری ته روانه کړه)

سیف لودین کتابتون

مزدوری مقرر سوی وله خپلی ژمنی سره سم سهار وختی له دوو اوښو سره دغار خولی ته راغلی دوئ روان سو دمدینی معلومه لاریې پرېښوده پرستونزمنه لاره دسیندپر غاړه رسول الله ﷺ او ابوبکرصدیق رضی الله عنه او عبدالله بن اریقط روان سو (بخاری شریف باب الهجرة)

پریوه اوښه نبی کریم ﷺ سپورسو اوپربله اوښه ابوبکرصدیق رضی الله عنه سپورسو او خپل ازادسوی مریئ عامربن فهیره یې دخذمت لپاره له ځان سره ملګری کی اوترشایې سپور کړ او عبدالله بن اریقط (۱) پرخپله اوښه سپورسو اودلارښودنی لپاره مخ ته روان وو (۲) شیخ عبدالحق محدث دهلوی فرمایې: چی پریوه اوښه رسول الله ﷺ سپورسو اوترشایې ابوبکرصدیق رضی الله عنه سپورکی اوپربله اوښه عبدالله بن ابی بکر رضی الله عنه او عامربن فهیره رضی الله عنه سپاره سو (۳) مګر صحی لومړی خبره ده ځکه حافظ عسقلانی په فتح الباری کې (۴) پردې خبره ټینګارکړی دی چی په دې سفرکې له نبی کریم ﷺ سره پرته له ابوبکرصدیق رضی الله عنه او عامربن فهیره رضی الله عنه بل څوک نه وو اوپه دریمه اوښه عبدالله بن اریقط سپورسو او عامه اومشهوره لاره یې پرېښوده اودښتو او بیابانولاره یې ونیوله، ابوبکرصدیق رضی الله عنه چی کله اسلام راوړی نوپه هغه وخت کې له ده سره څلوېښت رزه درهمه شتمنی وه ده ټوله دالله ﷻ په لاره کې مصرف کړه لکه چی موږبیان درته وکړچی ده ډیر مریان رانیول اوآزادیې کړه ټولی روپی مصرف سوی یوازې پنځه زره درهمه ورپاته سو هغه یې دهجرت په وخت کې له ځان سره واخیستل اومدینی ته چی کله ولاړی نوهغه پنځه زره درهم یې په مسجدنبوی اودخیرپه نورو کاروکې ولګول.

عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایې چی ابوبکرصدیق رضی الله عنه چی کله وفات کیدی نو یو دینار اودرهم یې هم نه دی پاته سوی (۵) عبدالله بن اریقط رسول الله ﷺ او ابوبکرصدیق رضی الله عنه ټول دمکی لاندی خواته وایستل اودساحل پرغاړه روان سو اوترعسفان پرلاندی لارتیرسو اومنزل پرمنزل یې پړاوچوی په مزل مزل قباء ته ورسیدل،،

(۱) زرقانی جلد۱، صفحه ۳۴)

(۲) مدارج النبوت جلد۲، صفحه ۸۵)

(۳) دبخاری الفاظ داسی دی: فاتاهما براحلتیهما صبح ثلاث. زادمسلم بن عقبة عن ابی ابن شهاب حتی اذاهدأت عنهما الاصوات وجاء صاحبهما ببعیریهما فانطلقامعهما بعامر بن فهیرة یخدمهما ویعنیهما یردفه ابوبکر ویعقبه لیس معهما غیره. فتح الباری جلد۷، صفحه ۱۸۶ باب الهجرت)

(۴) دحافظ ابن کثیر الفاظ داسی دی: قدجائهما الغار فاقامافیه ثلاثة ایام لیسکن الطلب عنهماوذلک لان المشرکین حین فقدوهما کماتقدم ذهبوا فی طلبهماکل مذهب من ساء الجهات وجعلوا لمن ردهما او احدهما مائة من الابل واقتصوا آثارهما حتی اختلط علیهم وکان الذی یقتص الاثر لقریش سراقة بن مالک بن جعشم کماتقدم. البدایه والنهایه جلد۳، صفحه ۱۸۲ اودسیرة ابن هشام الفاظ داسی دی: حتی اذمضت الثلاثة وسکن عنهما الناس اتاهماصاحبهما ببعیریهما وبعیرله. سیرة ابن هشام جلد۱ صفحه ۱۷۲، اوابن شهاب په روایت کې الفاظ داسی دی: حتی اذاهدات عنهما الاصوات جاء صاحبهما ببعیریهما فانطلقا معهما بعامربن فهیره یخدمهما ویعنیهما یردفه ابوبکرویعقبه لیس معهما غیره (فتح الباری) زرقانی جلد۱ صفحه ۳۲۵)

سیف لودین کتابتون

فائده :رسول الله ﷺ چې کله دخپل کورڅخه ووتی اودابوبکرصدیق رضی الله عنه کورته یې تشریف یوړی اوهغه یې له ځان سره ملګری کی اوغارثورته ورسیدل هلته پټ سو نو مشرکین راغلو درسول الله ﷺ کوریې محاصره کی کله چې یې هلته پیدانه کی نودده په لټون پسی یې یوی اوبلی خواته خلک ولیږل اوپه تلوتلوکې دغارثور خولی ته ورسیدل خوالله تعالی دعنکبوت کور(دغنې تال) له تاروڅخه داسی کارواخیستی چې په سلهاوو زغروسره نه کیدی تردرې ورځوپوری دوئ په دې غارکې پټ وو اوکفارهم درې ورځی پرلپسی ددوئ په لټون پسی وتلی وو کله چې کافران ناهیلی اوستړی سو نوکښیناستل دوئ دااعلان وکړچې هرڅوک که رسول الله ﷺ یاابوبکرصدیق رضی الله عنه ګیرکې اورایې ویلی نوهغه ته به په بدل کې سل اوښان انعام ورکول کیږی خوددې سره بیاهم دوئ بریالی نه سودوئ ستړی سو په دغه وخت کې رسول الله ﷺ اوابوبکرصدیق رضی الله عنه له غارڅخه ووتل اوددریاب پرغاړه مدینی منوری ته روان سو (۱)

ابوبکرصدیق رضی الله عنه په عمرکې تررسول الله ﷺ مشروو نوکله چې به پرخلکوتیریدل خلکوبه له ابوبکرصدیق رضی الله عنه څخه پوښتنه کوله چې داڅوک دی چې ترمامخته سپوردی ؟ ابوبکر صدیق رضی الله عنه به ورته ویل (هذالرجل یهدینی السبیل) دازمالارښوددی ، یعنی داسړی ماته لارراښیی ، خومرادبه یې داوو چې دی زمادآخرت لارښوددی (بخاری شریف جلد ۱، ۵۵۶)

ومدینی منوری ته دنبی کریم ﷺ دروانیدورځ اوتاریخ

دعقبه تربیعت تقریبادرې میاشتی وروسته دلومړی خور په لومړی ورځ رسول الله ﷺ له مکی مکرمی څخه روان سو ، حاکم فرمایې چې په متواتروِاحادیثوداخبره ثابته سوی چې رسول الله ﷺ ددوشنبی په ورځ له مکی روان سو اوددوشنبی په ورځ مدینی منوری ته ورسیدی مګر محمدبن موسی خوازمی لیکي چې دپنج شنبی په ورځ له مکی مکرمی څخه ووتی حافظ عسقلانی لیکي چې صحی خبره داده چې دپنج شنبی په ورځ له مکی ووتی درې ورځی په غارکې وو ددوشنبی په ورځ له غاره ووتی اومدینی منوری ته روان سو ، اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها فرمایې : چې درسول الله ﷺ تررواندیدووروسته خلک زمادپلارکورته راغلو په دوئ کې ابوجهل هم و دوئ پوښتنه وکړه چې ستاپلارابوبکر رضی الله عنه چیری دی ماوویل ، والله که زه هیڅ خبره یم ، ابوجهل خبیث زه پرمخ په څپیړه دومره په زوروهلم چې زماغوږوالی پرځمکه ولویدل ، (۲)

---

(۱) فتح الباری جلد ۷ صفحه ۱۸۶)
(۲) سیرة ابن هشام جلد ۱، صفحه ۱۷۲)

سیف لودین کتابتون

دام معبدرضي الله عنها قصه

دوئ چې کله له غاره ووتل نودمدینې منور لیرې اواوږده لاره یې ونیوه په لاره کې دام معبدپرخیمه تیرسو ام معبدیوه ډیره شریفه میلمه فاله ښځه وه دنبوی قافلې خلکودام معبدڅخه دغوښې اوخورمادرانیولوغوښتنه وکړه مګرهیڅ یې پیدانه کړه ، رسول الله ﷺ دام معبدپه خیمه کې ولاړه میږولیدله نوپوښتنه یې وکه ، داڅنګه میږه ده ، ام معبدورته وویل داد ډیرې کمزورۍ په وجه له رمی سره نسی تلای ، نبی کریم ﷺ وفرمایل په دې کې څه شیدې نسته ؟ ام معبدوویل په دې کې شیدې له کومه دی داله ډیرې کمزورۍ له رمی سره نه سی تلای ، نبی کریم ﷺ وفرمایل آیاماته ددې دلوشولواجازه شته ؟ ام معبدوویل زمامور اوپلاردې پرتاقربان وی که په دې کې شیدې وای نوضرور ما تاسوته لوشله ، نبی کریم ﷺ بسم الله وویله اودمیږې پرغولانځه یې لاس تیر کی غولانځه له شیدوډکه سوه نبی کریم ﷺ ولوشوله ، یولوښي یې په ډک کې چې هغه داتوترلسوپورې ددومره کسانوبس کیدی اول یې ام معبدته شیدې ورکی کله چې هغه په مړه سوه بیایې خپلوملګروته ورکی په خپلوملګرویې شیدې وڅیښلې اوپه پای کې نبی کریم ﷺ په خپله وڅیښلې وروسته یې بیاولوشوله اولوښي یې ډک کی ام معبدته یې ورکی ، ام معبدبیعت ورسره وکی او نبی کریم ﷺ روان سو ، کله چې ماښام دام معبدمیړه ابومعبدله زنګله راغلی وې لیدل چې غټ لوښی له شیدوډک پروت دی نوپه ډیرتعجب یې پوښتنه وکه ؟چې اې ام معبدداشیدې له کومه وی ،په دې میږه کې خودشیدونوم هم نه وو ؟ ام معبدوویل چې نن دلته یومبارک سړی تیرسوقسم په الله ﷻ داټول دهغه برکت دی اوټوله پیښه یې ورته بیان که ، ابومعبدوویل ته دهغه علامې راته ووایه څنګه سړی وو ، ام معبددرسول الله ﷺ څیره مبارکه اوالله ورکړې عظمت اوجلال اوهیبت اوعزت په تفصیل سره ورته بیان کی داسی ورته بیان کی لکه په مستدرک کې چې یادسوی دی ،، ابومعبدوویل زه پوه سوم ، قسم په الله ﷻ داهغه قریشی سړی دی ، زه به هم خامخادهغه په خذمت کې حاضرېږم پرلار خوداپیښه رامنځ ته سوه اوپه مکه مکرمه کې یونامعلوم آواز کونکی دا اشعاروویل : اواز اوریدل کیدی مګر داشعارولوستونکی په سترګونه ښکاره کیدی هغه اشعار داسی دی :

جَزَى اللهُ رَبَّ النَّاسِ خَيْرَ جَزَائِهِ .... رَفِيقَيْنِ حَلَّا خَيْمَتَيْ أُمِّ مَعْبَدِ

الله ﷻ دې هغه دوملګروته دخیربدله ورکی ، کوم چې دام معبدپه خیمه کې کښنته سو

هُمَا نَزَلَا (۱) بِالْهُدَىٰ فَاهْتَدَتْ .... فَقَدْ فَازَ مَنْ أَمْسَىٰ رَفِيقَ مُحَمَّدِ

---

(۱) دابن هشام په روایت کې دامصری داسی دی : همانزلا بالبر ثم تروحا ، سیرة ابن هشام جلد۱ ، صفحه ۱۷۲ البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۱۸۹حافظ ابن کثیر فرمایې : چې ام معبداوابومعبددواړه په اسلام مشرف سو اوهجرت یې وکی دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو

سیف لودین کتابتون

دوئ په هدایت سره کښتنه سو بیاام معبد هدایت قبول کی او مرادته ورسیده هغه سړی کوم چی دمحمد ﷺ په دې مبارک سفر کې ملګری سو یعنی ابوبکر صدیق رضی الله عنه

لِيَهْنَ اَبَابَكْرٍ سَعَادَةَ جَدِّهِ.................. بِصُحْبَتِهِ مَنْ يُسْعِدِ اللهُ يَسْعَد

ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته چی دنبی کریم ﷺ دملګرتیا په برکت کومه نیک بختی ورسیده هغه دې دده مبارک وی او چاته چی الله جل جلاله نیک بخت ورکړی وی هغه به خامخا نیک بخته وی

لِيَهْنَ بنی کعب مقام فتاتهم.................. ومقعدها للمؤمنین بمرصد

مبارک دی وی بنی کعب ته ددوئ دښځو درجی او دمومنانو دپاره ددې کور په کار راتلل

سَلُوْ اُخْتَكُمْ عن شاتها وانائها.................. فانکم ان تسألوا الشاة تشهد

تاسو دخپلی خور ښځه دهغه میږی او دلوښي پوښتنه وکوی که تاسو له هغه میږی پوښتنه وکوی نو میږه به هم شاهدی ووایې

دعاها بشاة حائل فتحلبت.................. علیه صریحا ضرة الشاة مزبد

نبی کریم ﷺ له هغې ښځه یوه میږه وغوښته بیا هغه میږی دومره شیدی وکړی چی لوښي ځنی ډک سو

فَغَادَرَهَا رَهْنًا لدیها لحالب.................. یرددها فی مصدر ثم مَوْرِدِ

بیا یې هغه میږه دې ته پریښوده چی هر راتلونکی او تلونکی ته به یې لوشوله

حسان بن ثابت رضی الله عنه ته چی کله دهاتف دپټ اواز کونکی داا شعار ورسیدل نو حسان بن ثابت رضی الله عنه ددې په ځواب کې داسی شعرونه وویل

لقد خاب قوم غاب عنهم نبیهم.................. وقدس من یسری الیه ویغتدی

رښتیا هم خلک تاوانی سو هغه خلک چی له دوئ ځخه پیغمبر ﷺ ولاړی یعنی قریش او پاک سو هغه خلک چی سهار او ماښام دهغه نبی ﷺ په خدمت کې حاضریږی

تَرَحَّلَ عَنْ قَوْمٍ فَضَلَّتْ عُقُوْلُهُم.................. وَاَحَلَّ عَلٰی قَوْمٍ بِنُوْرٍ مُجَدَّدِ

نبی ﷺ خوله یوه قوم ځخه سفروکی ددوئ عقلونه خوولاړو او پر یوبل قوم باندی دالله جل جلاله په نوی نور سره کښتنه سو.

هَدَاهُمْ به بعد الضلالة رَبُّهُمْ.................. فَاَرْشَدَهُمْ مَنْ يَّتْبَعِ الحقَّ يَرْشُدْ

له بیلاری وروسته الله جل جلاله په هغه نور سره ددوئ لارښوونه وکړه او ځوک چی دحق پیروی کوی هغه به لار پیدا کوی.

وهل یستوی ضلال قوم تَسَفَّهُوا.................. عَمًی وهداةٌ یهتدون بِمُهْتَدِ

آیا بیلاری، ګمرهان، کم عقلان او ړانده له لارښودل سویو سره برابرید لای سی

وقد نَزَلَتْ منه علی اَهْلِ يَثْرِب.................. رِکَابُ هُدًی حَلَّتْ علیهم باَسْعُدِ(۱)

او په یثرب کې دلارښوونکو او نیک بختانو قافله له برکتو سره کښتنه سوه

(۱) اسعد جمع دسعد دی په معنی یمن ضد دنحوس دی)

سیف لودین کتابتون

نبیٌ یری مالایری الناسُ حَوْلَهُ .... ویتلو کتاب الله فی کُلِّ مَشْهَدٍ

هغه نبی ﷺ دی ده ته هغه شیان ښکاره کیږی کوم چی له ده سره ناست خلک وی هغوئ ته نه ښکاریږی او هغه په هرمجلس کې دخلکومخ ته دالله ﷻ دکتاب تلاوت کوی ،،

وان قال فی یومٍ مقالة غائب ....فتصدیقها فی الیوم اوفی ضُحی الغَدِ

که هغه دغیبو خبره وکوی ، نونن یاترصباسهاره پوری دهغې رښتنیوالی ښکاره کیږی

داروایت له ډیروصحابه ﷺ په مختلفوسندوسره نقل سوی دی

ام معبد [۱] او ابومعبدیعنی دام معبد میړه او حبش بن خالد یعنی دام معبد ورور او سلیط بدری ﷺ هشام بن حبیش بن خالد ﷺ ددې لومړنیوڅلوروصحابیت منل سوی اومتفق علیه دی اودهشام بن حبیش بن خالد په صحابی کیدو کې اختلاف دی ، ابن حبان اوهشام په صحابه ووکې یادکړی دی ، امام بخاری فرمایې چی هشام دعمرفاروق ﷺ څخه اوریدل کړی دی (اصابه جلد ۳، صفحه ۶۰۳)

(۱) دام معبد ﷺ روایت ابن سکن راوړی دی ، اصابه ترجمه ام معبد باب الکنی)

(۲) له ابو معبد ﷺ څخه اما م بخاری په خپل تاریخ کې روایت کړی دی او امام ابن خزیمة په خپل صحیح کې یادکړی دی (اصابه ترجمه ابو معبد باب الکنی او ابن سعد په طبقات جلد ۱، صفحه ۱۵۵ کې او حاکم په مستدرک جلد ۳، صفحه ۱۱ کې یادکړی دی ..

(۳) حبیش بن خالد ﷺ روایت بغوی ، ابن شاهین ، ابن السکن ، طبرانی ابن منده اوداسی نوروهم راوړی دی [۲]

دحبیش ﷺ روایت حافظ ابن سید الناس هم په عیون الاثر کې په خپل سند سره یادکړی دی دارنګه دحبیش بن خالد ﷺ روایت حافظ مزی رحمه الله په تفصیل سره په تهذیب الکمال کې په خپل سند سره روایت کړی دی [۳]

(۴) دسلیط بدری ﷺ روایت په عیون الاثر کې راغلی دی .

(۵) دهشام بن حبیش ﷺ روایت په مستدرک کې ذکرسوی دی ، حاکم ددې روایت په اړه وایې ،هذاحدیث صحیح الاسناد) وروسته بیاحاکم دده حدیث په نورو مختلفولارو هم روایت کړی دی مستدرک جلد ۳، صفحه ۱۰، هغه لاری که څه هم یوائې یوائې له شرط دصحت سره برابری نه دی مګر چی ټولی سره یوځای سی نوټینګوالی اوباورپیداکوی ، حافظ ابن عبدالبرپه استیعاب کې فرمایې : چی دام معبد قصه په دې تفصیل سره له صحابه کرام ﷺ څخه یولوی جماعت روایت کړی ده .

(۱) اصابه جلد ۱، صفحه ۳۱۰) ——— (۲) اصابه جلد ۱، صفحه ۳۱۰)

(۳) تهذیب الکمال جلد ۱، صفحه ۳۴، تهذیب الکمال یوه نادره قلمی نسخه ده دانسخه په کتب خانه آصفیه حیدرآباددکن کې ده له هغې څخه ماکته واخیسته)

سیف لودین کتابتون

له دې پرته دې پيښې ته نژدې يوه بله پيښه بعينه په دغوټکو له ابوبکرصديق ؓ څخه روايت سوی چی حاکم په اکليل کې اوبيهقي په دلائل النبوة کې ياده کړی اوحافظ ابن کثير په البدايه والنهايه جلد ۳ صفحه ۱۹۱کې له ابوبکرصديق ؓ روايت نقل کړی او ويلی دی چی داسند حسن دی ،ددې روايت اودهغه روايت يوائی دومره توپير دی چی په دې روايت کې دام معبد نوم نه دی يادسوی بلکې ديوی ښځې په نامه داپيښه روايت سوی داسی بيان چی بعينه دام معبدپيښه ده ، محمدبن اسحاق اوامام بيهقی ودې ته ميلان لری چی داپيښه دام معبدپيښه ده ، اودحافظ مغلطائي بياودې ته خواته ميلان دی چی داپيښه دام معبدله پيښي بيله ده ، والله سبحانه اعلم (۱)

(۶) اوهمداسی پيښه دقيس بن النعمان ؓ څخه په کوتاه ډول روايت سوی ، حافظ هيثمی وايې ، البذار ورجاله رجال الصحيح (مجمع الزوائد (۲)

علمی فائده :له همدې ابومعبدخزاعی ؓ څخه امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په خپل مسندکې دقهقه خندا حديث روايت کړی دی حديث دادی(ابوحنيفه عن منصور بن زازان الوسطی عن الحسن عن معبدبن ابی سعيدالخزاعی عنه صلی الله عليه وسلم قال بينما هوفی الصلوة اذاقبل اعمی يريدالصلوة فوقع فی زبية فاستضحک القوم فقهقهوا فلماانصرف صلی الله عليه وسلم قال من کان منکم قهقه فليعدالوضوء والصلوة (فتح القدير جلد۱، صفحه ۲۵، کتاب الطهارة)

دسراقة بن مالک قصّه !

قريشودااعلان کړی وو چی هرچاکه محمد ﷺ يا ابوبکرصديق ؓ ووژل يايې لاس تړلی راوستل نوموړ به ډ هريوه په بدل کې سل اوښان انعام ورکوو ، مستدرک جلد ۳، صفحه ۶) سراقه بن مالک بن جعشم وايې زه د خپل کلی په يومجلس کې ناست وم يوسړی راغلی اووايې وايې وکی چی ماځوکسان وليدل دسيندپرغاړه ديثرب خواته روان وو زماخوداگمان دی چی داهغه محمد ﷺ اودده ملگری دی، سراقه وايې چی ماپه خپل زړه کې ويل چی ربښتياهم داهغه محمد ﷺ اودده ملگری دی خوهغه سړی ته مې وويل چی دامحمد ﷺ اودهغه ملگری نه سی کيدای دابه فلانکی اوفلانکی وی دامی په دې نيت وويل چی هسی نه داانعام بل څوک راڅخه يوسی زه يوګړی په دې مجلس کې کښيناستم ددې لپاره چی دخلکوله پامه داخبره ووزی وروسته راولاړسوم اوکورته راغلم ومينځی ته می وويل چی ته زماآس دپلانکی غونډۍ وشاته ودروه اوماڅپله نيزه راواخيسته دکوردشاله لوری راووتم اوپرآس مې پښه واړوله سپورسوم ددوئ په لټون

---

(۱) البدايه والنهايه جلد ۳، صفحه ۱۹۰ـــ ۱۹۶)

(۲) زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۴۹)

سیف لودین کتابتون

پسی روان سوم کله چی دوئ ته نژدی ورسیدم نو ابوبکرصدیق ﷺ ولیدلم هغه نبی کریم ﷺ ته وویل موږ ونیول سو داسړی زموږ په لټون پسی دی اودې خواته ډیر تیز راروان دی نبی کریم ﷺ وفرمایل هیڅکله هغه موږ نه سی ګرفتاره کولای او ابوبکرصدیق ﷺ ته یې وویل لاتَحْزَنْ اِنَّ اللهَ مَعَنَا ، ته مه غمجن کیږه الله ﷻ له موږ سره دی ، اوماته یې ښیراوکوله(۱) په همدې وخت کې زماآس ترګونډوپوری په شګلنه ځمکه کې ښخ سو (۲) ماغوښتنه ځنی وکړه چی تاسوپه آمان یاست رښتیاهم ستاسودښیراله وجهی زماآس په ځمکه کې ښخ سو تاسودواړه زمادپاره له الله ﷻ وغواړی چی زماآس له ځمکی راووزی قسم په الله ﷻ زه له تاسوسره ژمنه کوم چی هرڅوک چی ستاسوپه لټون پسی دمکی له لوری راځي هغه به زه بیرته شاته ګرزوم رسول الله ﷺ دعاوکه آس هم سمدستی ځمکی پریښودی ، زه هم پوه سوم چی الله تعالی به له نن ورځی وروسته دوئ ته غلبه اوقوت ورکوی اوقریشوچی دسل اوښانوانعام اوډګیرولوکومه خبره مشهوره کړی وه هغه مې هم ودوئ ته وکوله اوودوئ ته مې دلاری توښه وړاندی که نبی کریم ﷺ هغه نه واخیسته خودایې راته وویل چی زموږحال وچاته مه وایه ماله نبی کریم ﷺ غوښتنه وکړه چی وماته دامن اومعافی لیک راکه دنبی کریم ﷺ په امرسره عامربن فهیره دڅرمنی پریوه ټوټه باندی لیک ولیکی اودامن اومعافی لیک یې وماته وسپاری دوئ دمدینی پرلورروان سو زه هم له هغه لیک سره راستون سوم(۳) دمکی پرلوری روان سوم کله چی به یوسپوریاپیاده په مخ راتلی نوهغه به مې ګرزوی چی ستادتلوضرورت نسته زه اوس له هغه لوری راغلم که چیری وای نوما به هرومرو ګیرکړی و (بخاری شریف جلد۱ ، صفحه ۵۱۰، جلد۱ ، صفحه ۵۱۵تر صفحه ۵۵۷) پوری)

سراقه چی کله مکی ته ورسیدی نوله ابوجهل سره یې ولیدل اوداشعریې ورته ولولی :

---

(۱)دبخاری په روایت کې راغلی دی : چی نبی کریم ﷺ داښیراوکه .اللهم اصرعه ، اې الله دئ وګرزوی اوپه یوروایت کې دی : چی داسی یې وفرمایل : اللهم اکفنابماشئت) اې الله ﷻ زموږ کفایت وکوی څنګه چی ته غواړی (فتح الباری جلد۷، صفحه ۱۸۷)

(۲) اوپه یوروایت کې راغلی دی چی دسراقه آس ترنسه پوری په ځمکه کې ښخ سو (فتح الباری جلد ۷، صفحه ۱۸۸)

(۳)په یوحدیث کې راغلی دی چی نبی کریم ﷺ سراقه ته وفرمایل : کیف بک اذالبست سوار کسری) اې سراقه په هغه وخت کې به ته څنګه یې چی ته دکسری پاچابنګړی لاس ته واچوی کله چی دعمرفاروق ﷺ دخلافت وخت وونود کسری پاچهی فتح سوه اودکسری تاج اوبنګړی اونوری ډیر ګینی په مسجدنبوی کې دعمرفاروق ﷺ ومخ کیښودل سو ی عمرفاروق ﷺ وفرمایل : سراقه راوغواړی سراقه راغلی عمرفاروق ﷺ سراقه ته وویل لاس پورته که اودایې وویل الله اکبر الحمدلله الذی سلبها کسری بن هرمز والبسها سراقة الاعرابی الله اکبر) ثنااوصفت هغه پاک ذات لره دی چی دابنګړي یې دکسری څخه واخیستل اوس دیوه کوچی بزګر په لاس کیدی .په همدې وخت کې سراقه ﷺ په ژړاسو اووې ویل چی ماته نبی کریم ﷺ ویلی وو چی ته نه غواړی چی دکسری بنګړی ستاولاس ته ولویږی ، وروسته عمرفاروق ﷺ هغه ګینی اوزیورات پرمسلمانانوووېشل، زرقانی جلد۱، صفحه ۳۴۸ الاصابه ترجمه سراقه بن مالک ﷺ واستیعاب لابن عبدالبرجلد۲، صفحه ۱۲۰)

سیف لودین کتابتون

اباحکم واللہ لوکنت شاهدا.................لامرجوادي حين ساحت قوائمه

اې د حکم پلاره په الله ﷻ قسم که ته په هغه وخت کې واې کله چې زما د آس پښې په ځمکه کې ښخې سوې علمت ولم تشکک بان محمداً.....................نبي بِبُرهانٍ فمن ذا يقاومه

نو تا به یقین کړی وو او یوه زره شک به دې هم نه وپاته سوی چې محمد ﷺ د الله ﷻ رښتینی نبی دی او په ټینګو دلائلو سره رالیږل سوی او څوک د ده مخه نسي نیولای (١)

فائده :د نبی کریم ﷺ هم دا معجزه د موسی ﷵ له هغه معجزی سره مشابه ده کله چې موسی ﷵ قارون ته ښیرا وکوله او هغه په ځمکه کې ښخ سو دلته د نبی کریم ﷺ په ښیرا د سراقه بن مالک آس په ځمکه کې ښخ سو ، وروسته نبی کریم ﷺ پرته له ویری پر لاره روان سو کله چې نبی کریم ﷺ مدینې منوری ته نژدې ورسیدی نو زبیر ؓ له قافلې سره ملګری له شام راغلی له دوئ سره یو ځای سوو زبیر ؓ نبی کریم ﷺ او ابوبکر صدیق ؓ ته یوه جوړه سپینې جامې هم ورکې دا روایت د بخاری دی ، او د ابن ابی شیبه له روایت څخه څرګندیږی چې طلحه ؓ هم دوئ دواړو ته جامې وړاندې کې (٢)

دبریده اسلمي رضي الله تعالي عنه داسلام راوړو لوقصه !

د سراقه ؓ په څیر بریده اسلمی ؓ هم له اویا ٧٠ سپرو ملګرو سره د رسو ل الله ﷺ په لټون کې راووتلی وو د دې دپاره چې د قریشو لوی انعام یا جائزه لاس ته راوړی ،بریده نبی کریم ﷺ ته نژدې راورسیدی کله چې نبی کریم ﷺ ته ښه نژدې سو نو نبی کریم ﷺ پوښتنه ځنې وکړه (من انت) ته څوک یې ، بریده ؓ په ځواب کې ورته وویل (انا بريدة) زه نوم بریده دی نبی کریم ﷺ وابوبکر صدیق ؓ ته د نیک فال په څیر وفرمایل (يا ابا بكر بردامرنا وصلح)اې ابوبکر ؓ زموږ کار یخ سوا و سوله وسوه بیا یې وفرمایل ته له کومې قبیلې څخه یې ؟ بریده ؓ وویل (من اسلم)زه د اسلم له قبیلې څخه یم ، نبی کریم ﷺ بیا ابوبکر صدیق ؓ ته د نیک فال په څیر وفرمایل .(سلمنا) موږ خوندی او په امن سو بیا یې ځنې وپوښتل د اسلم قبیلې د کوم ښاخ څخه یې ؟ (من بني سهم) په اسلم قبیله کې د سهم له ټبر څخه یم ، نبی کریم ﷺ وفرمایل ،(خرج سهمک)ستا برخه راووتله ، یعنی تا ته به د اسلام څخه برخه ورسیږی ، بریده ؓ پوښتنه وکه ته څوک یې ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

انا محمد بن عبدالله رسول الله :زه نوم محمد ﷺ د عبد الله زوی او د الله ﷻ رالیږل سوی استازی یم :بریده ؓ وویل :اشهدان لااله الاالله وان محمداً عبده ورسوله : بریده ؓ هم مسلمان سو او ورسره اویا کسان چې د بریده ؓ ملګری وو هغوئ هم ټوله په اسلام مشرف سوو روسته بریده

(١) فتح الباری جلد ٧، صفحه ١٨٩) ، روض الانف ، جلد ٢ ، صفحه ٦)
(٢) فتح الباری جلد ٧ ، صفحه ١٨٩)

غوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ کله چی ته مدینی ته داخلیږی باید ستاومخ ته یو بیرغ وی ؟ رسول الله ﷺ خپله لنګوټه خلاصه که اوپه نیزه پوری یې وتړله اوبریده ﷜ ته یې ورکړه ، کله چی رسول الله ﷺ مدینی ته ورسیدی نودبریده ﷜ هغه بیرغ په لاس کې واو دنبی کریم ﷺ مخ ته روان وو (اخرجه البیهقی فی الدلائل واخرجه ابن عبدالبر باسناده فی الاستیعاب ترجمه بریده اسلمی (۱)

درسول الله ﷺ دهجرت خبرمدینی منوری ته ډیر وختی رسیدلی وو دمدینی هرمسلمان وګړی دنبی کریم ﷺ دلیدلودپاره له مدینی څخه دحره په نامه ځای ته راوتلی واوپه انتظارولاړو کله چی به غرمه سوه نوبیرته به کوروته سره ولاړه ډیری ورځی په دې انتظارکې تیری سوی یوه ورځ غرمه دوئ وکوروته ستنیدل یویهودی دغونډۍ پر سر ولاړ و دغونډۍ له سره یې نبی کریم ﷺ اودده ملګری ولیدل اوبی اختیاره یې ترخوله دا چیغه ووتله :يَابَنِيْ قَيْلَةَ هَذَا جَدُّكُمْ :اې دقیلی زامنو دادی ستاسوبخت مبارک اوښه نصیب راورسیدی . (۲)

ددې خبری په اوریدوسره انصار﷢ دومره خوشاله سوچی په ځان نه پوهیدل دنبی کریم ﷺ دهرکلی لپاره یې رامنډې کړی اودالله اکبرپه نعرویې دبنی عمرو بن عوف ټوله آبادی ولړزوله په مدینه منوره کې یوزوړ اوشورجوړشو له مدینی څخه درې میله لیری یوه آبادی ده هغې ته قباوایې هلته دانصارو﷢ څه کورونه هم وددوئ مشرکلثوم بن هدم نومیدی رسول الله ﷺ چی کله قباء ته ورسیدی نودکلثوم بن هدم په کورکې میشت سو اوابوبکرصدیق ﷜ دخبیب بن اساف په کورکې واړول انصار﷢ به له هرلوری ښه په ګڼه ګوڼه راتلل اوپه ډیرجوش اوجذبه اودعشق په اندازه محبت سره به درسول الله ﷺ دهرکلی لپاره راتلل ..

علی کرم الله وجهه له رسول الله ﷺ څخه درې ورځی وروسته مدینی ته روان سو په مکه مکرمه کې درې ورځی ددې دپاره پاته سو چی دخلکو هغه امانتونه چی رسول الله ﷺ ته یې ایښی وو هغه خلکوته وسپاری علی کرم الله وجهه هغه ټول امانتونه وخلکوته وسپارل اودکلثوم بن هدم په کورکې له رسو ل الله ﷺ سره یوځای سو (سیرة ابن هشام جلد۱، صفحه۱۷۴)

---

(۱) سیرة ابن هشام جلد۱صفحه ۱۷۴)

(۲) [illegible] جلد۱صفحه ۳۵۰:

سیف لودین کتابتون

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په قباء کښی د مسجد تقوی بنیاد کیښودی !

په قباء کې له کښته کیدو وروسته نبی کریم ﷺ ترټولو کاَرومخکې د مسجد قباء بنیاد کیښودی او ترټولو مخکې یې په خپله په خپل لاس مبارک یو کانی راوړی او د قبلې لوری ته یې کیښودی تر نبی کریم ﷺ وروسته ابوبکر صدیق رضی الله عنه او تر ابوبکر صدیق رضی الله عنه وروسته عمر فاروق رضی الله عنه یوه یوه ډبره راوړه په بنیاد کې کیښوده وروسته نورو صحابه کرام ډبرې راوړې او ایښودې یې په دې طریقه د مسجد د جوړیدو لړی پیل سوه رسول الله ﷺ به هم غټې ډبرې راوړې او ډیر ځله به ډبره دومره غټه وه چی له نس مبارک سره به موښته صحابه کرام رضی الله عنهم غوښتنه ځنی وکړه چی یارسول الله ﷺ موږ یې راوړو ته کښینه خو رسو ل الله ﷺ به دا نه خوښوله چی زه ناست یم او تاسو کار کوی د مسجد قباء په شان کې دا آیت نازل سو :

لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَنْ تَقُومَ فِيهِ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ

(۱۰۸) آیت سورة توبه)

ژباړه : هغه مسجد چی د هغه بیناد له لومړی ورځی پر تقوی ایښودل سوی دی هغه د دې بشپړ مستحق دی چی ته په هغه کې ودریږی په هغه مسجد کې داسی خلک سته چی ښکاره او پټه پاکی خوښوی او الله تعالی هم داسی پاکي کونکی خوښوی ،

کله چی دا آیت نازل سو نو نبی کریم ﷺ له بنی عمرو بن عوف څخه پوښتنه وکړه چی هغه کومه پاکی ده چی د هغې له کبله الله ﷻ تاسو ستایلی یاست ؟ بنی عمرو بن عوف رضی الله عنهم وویل موږ د کانړو یا ډبرو تر استنجا وروسته په اوبو استنجا وهو ، یارسو ل الله ﷺ کیدای سی چی دا الله عزوجل زموږ دا کار خوښ وی نبی کریم ﷺ وفرمایل هو دا هغه عمل دی چی په دې باندی الله ﷻ ستاسو ستاینه کړی تاسو ته په کار دی چی دا کار پر ځان لازمی وګرزوی او د دې پابند سی (روض الانف جلد ۲، صفحه ۱۱۰)

په صحیحن کې له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ به د هری شنبی په ورځ مسجد قباء ته تلی کله به سپور او کله به پیاده تلی او دوه رکعته لمونځ به یې په مسجد قباء کې کوی

له سهل بن حنیف رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسو ل الله ﷺ وفرمایل : څوک چی له خپله کوره په اودا سه راووزی او مسجد قباء ته ولاړسی دوه رکعته لمونځ وکوی نو د عمری برابر ثواب به ورکول کیږی (ابن ما جه)

سیف لودین کتابتون

دهجرت تاريخ ؛

محمدبن اسحق ليکي چې په کومه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم هجرت وکی او قباء ته ورسيدی هغه دخالی شنبی ورځ وه اود ۱۳ نبوی کال دلومړی خور ۱۲ ورځ وه خودسيرت دعلماء رايه دادی چې رسول الله ﷺ له مکی مکرمی څخه دپنج شنبی په ورځ دصفری ۲۷ وه ووتی درې شپې یې په غارثورکې تيری کړی دلومړی خور په اوله ورځ چې ديک شنبی ورځ وه مدينی منوری ته روان سو اودسيندپرغاړه يې اووه ورځی مزل وکړدلومړی خور ۸ اوددوشنبی په ورځ غرمه قباء ته ورسيدی (علامه ابن حزم اوحافظ مغلطائی هم همدا خبره غوره کړی (زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۵۱)

داسلامي تاريخ پيل کله وسو؟

زهری رحمة الله عليه وايې چې له همدې ورځی داسلامی تاريخ پيل درسول الله ﷺ په حکم وسو، کله چې نبی کريم ﷺ مدينی منوری ته تشريف راوړی نودلومړی خور څخه یې دتاريخ دليکلو حکم وکی، داروايت حاکم په اکليل کې ذکرکړی دی، مګر داروايت ضعيف دی مشهور دادی چې دعمرفاروق رضی الله عنه دخلافت په وخت کې داسلامی تاريخ پيل سوی دی.

دشعبی اومحمدبن سيرين څخه روايت دی چې يوه ورځ ابوموسی اشعری رضی الله عنه عمرفاروق رضی الله عنه ته ليک وليږی چې ستافرمان موږته راسيږی مګر په هغه باندی تاريخ نه وی، عمر فاروق رضی الله عنه په کال ۱۷ هجری کې صحابه کرام رضی الله عنهم دتاريخ دتعين دمشوری لپاره راوغوښتل يو شمير صحابه رضی الله عنهم وويل چې دتاريخ پيل بايد دنبی کريم ﷺ له نبوت وسی، اونوروبياوو يل چې بايد له هجرت پيل وسی اوبعض ويل چې دنبی کريم ﷺ دوفات څخه بايد تاريخ شروع سی عمرفاروق رضی الله عنه وفرمايل دتاريخ شروع بايد دهجرت له پيل څخه وسی ځکه په هجرت سره حق اوباطل سره بيل سو اوپه هجرت سره داسلام عزت اوغلبه پيل سوه دټولوپرهمدې رايه اتفاق سو اودارايه يې خوښه کړه ، دقياس غوښتنه خوداده چې دهجری کال شروع دلومړی خورڅخه بايدوسی ځکه رسول الله ﷺ په همدې مياشت کې مدينی منوری ته راغلی ،مګر دلومړی خور پرځای دمحرم دمياشتی څخه هجری کال پيل کيږی ، ځکه رسول الله ﷺ دهجرت اراده دمحرم په مياشت کې کړی وه اوانصارو رضی الله عنهم دلوی اخترپه لسم د رسول الله ﷺ په لاس بيعت وکړ او دذی الحجه په پای کې انصاروحج وکی مدينی منوری ته بيرته ولاړو نبی کريم ﷺ ددوئ له تګه ښوورځی وروسته دهجرت اراده وکړه اوصحابه کرامو رضی الله عنهم ته یې دهجرت اجازه ورکړه په دې وجه هجری سپوږ ميزکال دمحرم الحرام له مياشتی پيل کيږی عثمان رضی الله عنه اوعلی رضی الله عنه وعمرفاروق رضی الله عنه ته دامشوره ورکړه چې دکال پيل بايدله محرالحرام څخه وسی ، بعض وويل دروژی څخه

سیف لودین کتابتون

باید کال پیل سی خو عمر فاروق ﷺ وفرمایل محرم الحرام مناسب دی ځکه خلک د حج له آدا کیدو وروسته په محرم الحرام کې راستینږي پردې رایه ټولو اتفاق وکړ.
(باب التاریخ فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۵۲، زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۵۲، وعمدة القاری جلد ۸، صفحه ۱۲۸)

له ابن عباس ﷺ څخه دوالفجر ولیال عشر په تفسیر کې نقل سوی دی چې له الفجر څخه د محرم الحرام سهار مراد دی چې له هغه څخه د اسلامی کال پیل کیږي (البدایه والنهایه جلد ۳، صفحه ۳۷)

امام سرسخی د سیر کبیر په شرح کې لیکلی دی، چې کله عمر فاروق ﷺ د تاریخ د تعین لپاره صحابه کرام ﷺ راوغوښتل، نو چادا مشوره ورکه، چې د تاریخ شروع باید له ولادت مبارک څخه وسی، مگر عمر فاروق ﷺ دارایه تصویب نه کړه ځکه په دې کې له نصاراوو سره مشابهت و ځکه دوئ تاریخ د عیسی ﷺ د ولادت پیدا ایښت څخه دی بعض دارایه ورکړه، چې د رسول الله ﷺ له وفات کیدو څخه باید د تاریخ شروع وسی، عمر فاروق ﷺ دارایه هم خوښه نه کړه ځکه د رسول الله ﷺ وفات لویه پیښه او غټ غم دی دهغه څخه د تاریخ پیل مناسب نه دی، له ډیرو مشورو وروسته ټول پردې اتفاق سو چې د هجرت څخه باید د تاریخ پیل وسی، عمر فاروق ﷺ هم همدا رایه غوره که، ځکه له هجرت وروسته حق او باطل سره بیل سو، د اسلام شعائر، یعنی جمعه او عیدین د اختر لمونځ په ښکاره وسو، کذا فی شرح السیر الکبیر جلد ۴، صفحه ۶۳)

په قباء کې له څو ورځو پاته کیدو وروسته نبی کریم ﷺ د جمعې په ورځ د مدینې منورې نیت وکړ او پر اوښه باندې سپور سو، په لاره کې د بنی سالم کلی وو هلته ورسیدی چې د جمعې د لمانځه وخت راغلی هلته یې د جمعې لمونځ اداکی داپه اسلام کې د رسول الله ﷺ د جمعه لومړنی لمونځ او د جمعې لومړۍ خطبه وه:

د جمعې لومړنی لمونځ او د جمعې لومړنی خطبه چې خطبة التقوی ورته وایي

هغه خطبه داسی دی چې ددې هر لفظ د فصاحت او بلاغت د دریاب په ژوروالی کې پای ته رسیدلی دی او دهغې هر ټکی د نفس د ناروغیو لپاره شفا او د مړو زړو لپاره د ژوند اوبه دی او دهغې هره خبره د ذوق د څیښتنانو لپاره تر مهر سوي و شرابو ډیر خوندور او مزه دار دی

الحمد لله أحمده واستعينه، وأستغفره واستهديه، وأومن به ولا أكفره، وأعادي من يكفره وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأن محمدا عبده ورسوله أرسله بالهدى ودين الحق والنور والموعظة على فترة من الرسل، وقلة من العلم، وضلالة من الناس، وانقطاع من الزمان، ودنو من الساعة، وقرب من الاجل. من يطع الله ورسوله فقد رشد، ومن يعصهما فقد غوى وفرط وضل ضلالا بعيدا، وأوصيكم بتقوى الله فإنه خير ما أوصى به المسلم المسلم أن يحضه على الآخرة، وأن يأمره بتقوى الله. فاحذروا ما حذركم الله من نفسه، ولا أفضل من ذلك نصيحة، ولا أفضل من ذلك ذكرا. وإنه تقوى لمن عمل به على وجل ومخافة [من ربه] (۱).

سیف لودین کتابتون

وعون صدق على ما تبتغون من أمر الآخرة، ومن يصلح الذي بينه وبين الله من أمر السر والعلانية لا ينوي بذلك إلا وجه الله يكن له ذكرا في عاجل أمره وذخرا فيما بعد الموت، حين يفتقر المرء إلى ما قدم، وما كان من سوى ذلك يود لو أن بينه وبينه أمدا بعيدا، ويحذركم الله نفسه والله رؤوف بالعباد. والذي صدق قوله، وأنجز وعده، لا خلف لذلك فإنه يقول تعالى: (ما يبدل القول لدي وما أنا بظلام للعبيد) واتقوا الله في عاجل أمركم وآجله في السر والعلانية فإنه: (من يتق الله يكفر عنه سيئاته ويعظم له أجرا) (ومن يتق الله فقد فاز فوزا عظيما) وإن تقوى الله توقي مقته، وتوقي عقوبته، وتوقي سخطه. وإن تقوى الله تبيض الوجه، وترضي الرب، وترفع الدرجة، خذوا بحظكم ولا تفرطوا في جنب الله قد علمكم الله كتابه، ونهج لكم سبيله ليعلم الذين صدقوا وليعلم الكاذبين فاحسنوا كما أحسن الله إليكم، وعادوا أعداءه وجاهدوا في الله حق جهاده هو اجتباكم وسماكم المسلمين ليهلك من هلك عن بينة ويحيى من حي عن بينة ولا قوة إلا بالله. فأكثروا ذكر الله واعملوا لما بعد الموت فإنه من أصلح ما بينه وبين الله يكفيه ما بينه وبين الناس ذلك بأن الله يقضي على الناس ولا يقضون عليه، ويملك من الناس ولا يملكون منه، الله اكبر ولا حول ولا قوة الا بالله العظيم) (۱)

دالله ﷻ حمدا وثناء وايم او يوائحى له الله عزوجل مرسته او بخښنه او هدايت غواړم او په الله ﷻ باندى ايمان لرم له الله عزوجل څخه انكار نه كوم بلكې دده له منونكو سره دښمنى لرم او شاهدى وركوم چې الله ﷻ يو دى او محمد ﷺ دده بنده او رسول دى چې هغه الله ﷻ هدايت او دحكمت په رڼا او لار ښودنه په داسى وخت كې رالېږلى چې كله دانبياء او رسو لان عليهم السلام لړۍ پاي ته ورسيده او پرځمكه باندى پوهه لږ وه او خلك په گمراهى كې وو او قيامت نژدى و ځوك چې دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ خبره ومنى هغه هدايت پيدا كى، او چا چې دالله ﷻ درسول ﷺ نافرمانى وكړه هغه رښتيا هم بيلارى سو او كوتاهى يې وكه او په ډيره بيلرى كې ولويدى اوزه تاسو ته دالله ﷻ دپرهيزگارى وصيت كوم ځكه ديو مسلمان دويم مسلمان ته غوره وصيت دادى چې هغه وآخرت ته متوجه كړى او د پرهيزگارى حكم ورته وكوى، او وويرېږي دهغه شئ څخه چې الله ﷻ تاسو ويرولى ياست ، له پرهيزگارى څخه بل لوى نصيحت نسته او بيشكه دالله ﷻ پرهيزگارى او ويره دآخرت په اړه رښتينى مرسته ده او ځوك چې په ښكاره او پټه خپله معامله له الله ﷻ سره سمه كې، او هدف يې يوائحي دالله ﷻ رضاء وى او هيڅ دنيايى غرض او مصلحت يې مقصود نه وى نو دا دښكاره او پټ سموالى په دين كې دده لپاره دعزت او شهرت سبب دى او له مرگه وروسته دآخرت زخيره دى او په آخرت كې به انسان ښو اعمالو ته ډير محتاج وى او دتقوى

(۱) تاريخ طبرى جلد ۲، صفحه ۲۲۵، البدايه والنهايه جلد ۳، صفحه ۲۱۳)

سیف لودین کتابتون

خلاف امورو په اړه به په هغه ورځ وایې چې کاشکې زما او د بدو کارو په مینځ کې یوه پرده وای ، او الله تعالی تاسو له آخرت ویروي ، ځکه الله عزوجل پر خپلو بندګانو ډیر مهربان دی ، په خپله خبره کې رښتینی دی او د وعدې پوره کونکی دی دده په خبره او وعده کې هیڅ خلاف خبره نشته خپله خبره نه بدلوي او هم په خپلو بندګانو به خبردی نو تاسو په دنیا او آخرت کې په پټه او ښکاره له الله جل جلاله څخه ویریږی ، رښتیا هم څوک چې له الله جل جلاله څخه بیریږی الله عزوجل به د هغه ګناهونه بخښي او لویه بدله به ورکوي او څوک چې د الله جل جلاله څخه بیریږی رښتیا به هم هغه کامیابه سی او رښتیا د الله عزوجل بیره داسې شئ دی چې د الله جل جلاله د غضب او د هغه د عذاب او سزاء او ناراضی څخه سړی ساتي او پرهیزګاري د قیامت په ورځ مخونه سپینوی او رڼا کوی او د الله جل جلاله د رضا او د درجو د لوړوالي وسیله کیږی او په پرهیزګاری کې چې څومره برخه اخیستلای سی هغه واخلی په دې کې کمی مه کوئ الله جل جلاله ستاسو د دزد کړی د پاره کتاب نازل کی ، او د هدایت لاره یې ستاسو د پاره روښانه کړه د دې لپاره چې په رښتینی او دروغجن کې بیلوالی راسی نو لکه څنګه چې الله جل جلاله ستاسو سره احسان وکړتر تاسو هم د هغه پیروی وکوی او د هغه له دښمنانو سره دښمنی ولری د هغه په لاره کې جهاد وکوی الله تعالی تاسو د خپل ځان د پاره غوره او خاص کړی یاست ، او ستاسو نوم یې مسلمانان ایښي دی یعنی خپل تابعدار او امر منونکی نوم یې درباندې ایښي دی نو ددې نوم لحاظ وساتي د الله جل جلاله اراده داده چې څوک هلاکوی نو پر هغه باندې خپل دلیل قائموی نو ښه ژوندی وکوی هیڅ خوندی کیدل او هیڅ توان او قوت پرته د الله جل جلاله له کومک نه سی کیدای نو د الله جل جلاله ذکر ډیر کوی او د آخرت د پاره عمل کوی څوک چې خپله معامله د الله جل جلاله سره سمه کی الله تعالی به له خلکو څخه دده کفایت وکوی هیڅوک د ته ضرر نه سی رسولای ، ددې وجه داده چې د الله جل جلاله حکم پر خلکو چلیږی او د خلکو حکم پر الله جل جلاله باندې نه سی چلیدلای ، الله جل جلاله د ټولو خلکو مالک دی او خلک د الله عزوجل د هیڅ شئ مالکان نه دی ، له دې وجې تاسو خپله معامله له الله جل جلاله سره برابره کی ، د خلکو څخه مه بیریږی الله جل جلاله به د ټولو کفایت کوی الله عزوجل لوی ذات دی او هیڅ توان او قوت نشته پرته له الله جل جلاله هغه لوړ او لوی ذات دی .

نکته :دا د رسول الله ﷺ لومړی خطبه وه چې تر هجرت وروسته نبی کریم ﷺ ولوسته نبی کریم ﷺ له دیارلس کاله مظلوم ژوند تیرولو وروسته داسې خطبه ولوسته چې په هغې کې یوټکی هم ده د خپلو دښمنانو د بدیو شکایت ونه کړ ، له تقوی او پرهیزګاري او د آخرت له تیاری پرته هیڅ لفظ د نبی کریم ﷺ له ژبې مبارکې نه ووتي ، رښتیا هم نبی کریم ﷺ د (انک علی خلق عظیم) مصداق دی، صلی الله علیه وسلم وبارک وترحم .

سیف لودین کتابتون

دجمعې له لمانځه وروسته نبي كريم ﷺ پراوښه سپور سو او ابوبكر صديق ﷺ یې شاته كښينوی او دمدينې ولورې ته روان سو دانصارو ﷺ يو لويه ډله له سلاوو سره دنبي كريم ﷺ يوې اوبلې خواته اوله شاورپسې روان وو (۱)

هرچا غوښتل چې كاشكې رسول الله ﷺ زماسره كورته ولاړسي ،له هرې خوا په عاشقان اندازدا غوښتنه كيدله چې يارسول الله ﷺ داغريب كورستاپه خدمت كې حاضردی رسول الله ﷺ به هغه ته دعاء كوله اودابه يې فرمايل دااوښه دالله ﷻ له لورې امرسوې چيرې چې دالله ﷻ په امرسره كښينې چوسې هلته به زه استوګنه كوم (۲)

رسول الله ﷺ داوښې واګې پرې ايښې وې يوې خواته يې هم لاس نه وروړې دجوش حالت داسې و چې ښځې دنبوې ښائست دليدو لپاره وباموته ختلې وې اوداشعرونه يې لوستل

طلع البدر علينا :::::::::::: من ثنيات الوداع

دڅورلسم سپوږمۍ دثنيات الوداع څخه پرموږ رواختله

وجب الشكر علينا :::::::::::: مادعا الله داع

پرموږباندې دالله ﷻ شكر واجب دی ترڅوچې الله ﷻ ته بلونكې څوک پاته وې

ايها المبعوث فينا :::::::::::: جئت بالامر المطاع

اې موږته رالیږل سوې استازې تاداسې كارونه راوړې دی چې دهغه منه واجب دی .

(اودبنی النجار انجونو به داشعرونه لوستل)

نحن جوار من بنی النجار ::::::: ياحبذا محمد من جار

موږدبني النجار انجوني يو محمد ﷺ څه ښه همسايه اوګاونډئ دی

اوله ډير خوشالۍ دهروړوكې اوځوان پرژبه داالفاظ وو

جاء نبي الله جاء رسول الله :: دالله ﷻ نبي ﷺ راغلی دالله ﷻ رسول ﷺ راغلی .

په صحيح بخاری كې له براء بن عازب ﷺ څخه روايت سوی چې مادمدينې خلک يووخت دومره خوشاله نه دی ليدلې لكه درسول الله ﷺ په راتلوچې دمدينې خلک خوشاله وو

اوپه سنن ابي داؤد كې له انس بن مالك ﷺ څخه روايت سوی دی چې كله رسول الله ﷺ مدينې منورې ته تشريف راوړې ، نوحبشيانو درسول الله ﷺ دتشريف راوړلو په خوشالۍ كې دنيزه بازۍ لوبه كوله ، انس ﷺ فرمايي چې كله رسول الله ﷺ مدينې ته راغلی نودمدينې هركونج روښانه واو په كومه ورځ چې نبي كريم ﷺ وفات سو په هغه ورځ هر شئ تياره وواوكله چې نبي كريم ﷺ موږ په قبر كې كيښودی اوخاورته مووسپاری موږلالاسونه له خاورنه وو څنډلی چې په خپلوزړوكې موتغيراوتبديل وليدی ، (اخرجه الترمذی فی المناقب وقال صحيح غريب وابن ماجه فی الجنائز)

(۱) فتح الباري جلد ۷، صفحه ۱۹۵) ——— (۲) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۱۹۲)

سیف لودین کتابتون

لنډه داچې اوښه سو که سوکه روانه وه او صحابه کرام ﷺ داوښې پرشاوخوا راسته اوچپه خواته تلو وددوئ زړونه په ازل کې الله عزوجل دخپل ځان اودخپل رسول ﷺ دمینې اومحبت لپاره غوره کړي وو، اوله ځان پرته دنبي کریم ﷺ ددوئ په زړو کې دجزء لایتجزی په اندازه هیڅ ځای نه وو قسم په الله ﷻ داخه چې وایم داییخی رښتیادی په دې کې داستعاری اومجاز نوم اونښان هم نسته صحابه کرام ﷺ رښتیاهم همداسې وو، رسول الله ﷺ روان وو اودنبي کریم ﷺ ځان قربانونکو فدایانو لیمه ورته فرش کړي وو، هرسړی به دمینې په ولوله کې داوښ مهارنیول غوښتل خو نبي کریم ﷺ به دافرمایل (دعوها فانها مأمورة) داپرېږدی دادالله ﷻ له طرفه امرسوی .اوښه روانه وه په پای کې اوښه دبني نجارپه کلی کې چې دنبي کریم ﷺ ماماخیل په خپله پرهغه ځای ودریده چې اوس دمسجد نبوی دروازه دی رسول الله ﷺ له اوښې نه سوکښته لږ وروسته اوښه بیرته ولاړه سوه پرهغه ځای پریو تله چې مخکې چوسوی وه او مغزی یې پرځمکه کیښودی رسول الله ﷺ هم له اوښې را ښکته سو ابوایوب انصاری ﷺ له اوښې بارواړوی دنبي کریم ﷺ دسفرتوکي یې خپل کورته یوړل. (۱) درسول الله ﷺ خوپه زړه کې هم خوښه وه چې زه په بني النجارکې واوسیږم ځکه بني نجار دعبدالمطلب ماماخیل وا وپه خپل مشتیدوسره ددوئ عزت اودرناوی وکوی لکه چې دصحیح مسلم له روایت معلومیږی مگر الله ﷻ دهغه داغو ښتنه دمعجزې په ډول پوره کړه ځکه نبي کریم ﷺ داوښې واگې پریښودی اوښه خپلې خوښې ته پریښودل سوه هیڅ یوی خواته واگو ته حرکت نه ورکوی،نبي کریم ﷺ دخپل ځان لپاره هیڅ ځای نه دی غوره کړی ،ددې لپاره چې دهغه ددوستانو او مخلصانو په زړو کې څه شک اوشبه ونه لویږی اودوئ ته داوښیې چې زماد په خپله هیڅ معلوم ځای نیت اواراده نسته اوښه دالله ﷻ له لوری امرسوی ده چیری چې دالله ﷻ خوښه وی هلته به دریږی نبي کریم ﷺ دالله ﷻ دخوښې انتظارکوی او الله ﷻ دنبي کریم ﷺ دزړه غوښتنه هم پوره کړه پردې ځای داوښي دریدل صحابه کرام ﷺ ته یومعجزه وښودل سوه چې دهغې په برکت سره دټولو زړونه پریوبل دبدگمانۍ اوجګړی اونفرت څخه هم پاک سو ، اوټول په دې پوه سوچې دابوایوب انصاری ﷺ دکورخاصول درسول الله ﷺ له طرفه نه بلکې دالله ﷻ له لوری دی (ذَلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ (۲)

تراسلام مخکې وخت کې دیمن پاچا تُبّع (۳) دمدینې منورې په ځمکه کې تیرسوله ده

(۱) زرقانی جلد ۱ /ص/ ۳۵۶،تر ۳۵۹ ، عیون الاثرفتح الباری جلد ۷ /ص/ ۱۹۲)

(۲) زادالمعاد جلد ۲ ،صفحه ۵۵)

(۳) دیوروایت څخه معلومیږی چې تبع ډیر نیک سړی وو لکه چې ددې آیت په تفسیر کې (أنتم خیر ام قوم تبع) په تفسیرکې یوشمیر صحابه ﷺ اوتابعینو داخبره کړی ده

سیف لودین کتابتون

سره څلورسوه تنه دتورات علماء هم ملګري وو ټولو علماء له پاچاغوښتنه وکړه چې موږ ته په دې ځمکه کې دپاته کیدو اجازه راکړه ؟ پاچاپوښتنه وکه چې ولې ، دوئ په ځواب کې ورته وویل چې موږ دانبیاء علیهم السلام په صحیفو کې لیدلی دی چې په آخره زمانه کې به یونبی ﷺ پیدا کیږي دمُحَمَّدْ په نامه اودا ځمکه به دهغه دهجرت کوری وی ، پاچا دوئ ټولو ته دپاته کیدو اجازه ورکړه اودهریوه دپاره یې بیل بیل ځای جوړ کي اوټولو ته یې ودونه وکول اوهریوه ته یې ډیر مال اوشتمنی ورکړه اویو ځانګړی کور یې دنبی کریم ﷺ دپاره جوړ کی ، اودنبی کریم ﷺ په نامه یې یولیک ولیکي چې په هغه لیک دخپل اسلام راوړلو اودلیدنی تلوسه ولیکله دهغه لیک مضمون داسی دی

شَهِدْتُ عَلَى اَحْمَدَ اَنَّهُ :::::::: رَسُوْلٌ مِنَ اللهِ بَارِئَ النَّسَمْ

زه شاهدی ورکوم چې محمد ﷺ غوره استازی اوراليږل سوی حق رسول ﷺ دی

فَلَوْ مَدَّ عُمْرِي اِلَى عُمْرِهِ:::::: لَكُنْتُ وَزِيْرًا لَهُ وَابْنَ عَمْ

که زما ژوند دده ترراتلوپوری ورسیږی ، نوزه به دده مرسته اوکومک خامخاکوم

وَجَاهَدْتُ بِالسَّيْفِ اَعْدَائَهُ :::::::: وَفَرَّجْتُ عَنْ صَدْرِهِ كُلَّ غَمْ

اودده له دښمنانو سره به جهاد کوم ، اودده له زړه څخه به هرغم لیری کوم

تبع پردې لیک باندی مهرهم ولګوی اوپه دوئ کې یوه لوی عالم ته وسپاري ورته وې فرمایل چې که ته دهغه نبی آخرزمان په وخت کې ژوندی وی نوزما دالیک به هغه رسوی اوکه ته مړسوی نوخپل اولادته یې پریږده اوداوصیت وکړه کوم چې زه تاته کوم ، دالیک ترابوایوب انصاری رضی الله عنه راورسیدی ابوایوب انصاری رضی الله عنه دهغه عالم له نسل څخه وو اوداکورهم هغه کورو چې تبع پاچاآباد کړی وکله چې نبی کریم ﷺ هجرت وکی نولومړی ځل په همدی کورکې میشت سواونور انصار رضی الله عنهم دهغه څلورسوه علماء له نسل څخه دی اوابنه هم دالله جل جلاله په امر دهغه کورپردروازه ودریدله هغه کورچې دیمن پاچاتبع ډیره موده مخکې دنبی کریم ﷺ دپاره جوړکړی و شیخ زین الدین مراغی رحمة الله علیه لیکي چې که داوویل سی چې رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې دابو ایوب انصاری رضی الله عنه په کورکی نه دی میشت سوی بلکې وخپل کورته راغلی دی نوبیځایه به نه وی ، ځکه داکورخوله لویه سره دنبی کریم ﷺ دپاره تیارسوی و ابوایوب انصاری رضی الله عنه خو دهغه په انتظارپه دې کورکې او سیدی داسی ویل کیږی چې کله رسول الله ﷺ وکورته راغلی نوابوایوب انصاری رضی الله عنه هغه لیک ورته وسپاری هغه پانه چې مخکنی شعرونه پکی لیکل سوی و والله اعلم) (۱)

---

(۱) روض الانف جلد ۱، صفحه ۲۴

رسو ل الله ﷺ دابوایوب انصاری رضی الله عنه په کورکې استوګن سو ابوایوب انصاری رضی الله عنه ډیر ټینګار وکی چی ته باید په لوړه خونه کې واوسېږی او موږ په لاندی خونو کې یو نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ماته هروخت خلک ځی اوراځی زه په لاندی کوټه کې اوسیږم خو ابو ایوب انصاری رضی الله عنه وویل چی دازموږ دپاره ډیره بی ادبی ده نبی کریم ﷺ دابوایوب رضی الله عنه له ټینګاره وروسته په لوړه خونه کې واړول . یوه ورځ ابوایوب انصاری رضی الله عنه اودده کورنۍ په لوړه خونه کې وو ابوایوب انصاری رضی الله عنه وایې له موږ څخه داوبو منګۍ ماتسو موږ ډیر وبیریدو چی هسی نه اوبه درسول الله ﷺ کوټی ته ورتوی سی نوماااودایوب مور دواړو هغه اوبه په خپله بستره وچی کړی اوله موږ سره بل شئ هم نه وو پرته له دې بستری شپه مو هغسی تیره کړه ، اوموږ به هره ورځ دنبی کریم ﷺ لپاره خوراک تیاروی اوورلیږی به مو څه چی به پاته سو هغه به یې بیرته رالیږی اوموږ به وخوړی په هرځای کې چی به درسول الله ﷺ دګوتونښان وو موږ به تبرکاً له هغه ځایه خوراک کوی . یوه ورځ موږ په خوراک کې اوږه اوپیاز واچول ، رسول الله ﷺ ته مو ولیږی کله چی هغه کاسه بیرته راولیږل نو موږ په کاسه کې دهغه مبارک دګوتونښی ونه لیدی په ډیره بیره سره زه دهغه په خذمت کې حاضرسوم ماورته وویل یارسول الله ﷺ تاخوراک نه وو کړی ځکه په هغه کاسه کې ستا دګوتونښی نه وی ما اودایوب مور دبرکت دپاره له هغه ځایه خوراک کوی چیری چی به ستادګوتومبارکونښی وی رسول الله ﷺ وفرمایل : ماپه دې خوراک کې داوږی اوپیازبوی محسوس کړزه له فرشتوسره خبری کوم ځکه زه له داسی خوراکه ځان ساتم چی په هغه کې پیازوی اوتاسویې خوری ، ابوایوب رضی الله عنه فرمایې بیاموږ هیڅ کله دنبی کریم ﷺ په خوراک کې اوږه یاپیازنه دی ګډ کړی (۱)

په مدینه منوره کې به دیهودعلماء درسول اکرم ﷺ په خذمت کې حاضریدل

رسول الله ﷺ چی کله مدینی منوری ته راغلی نوپه خاص ډول به دیهودوعلماء درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضریدل اوله رسول الله ﷺ څخه به یې دامتحان په ډول رنګارنګ پوښتنی کولی ځکه دیهودوعلماء دمخکنیو انبیاء علیهم السلام په زیری ورکولوسره دنبی اخرزمان په راتلوډیر ښه خبروو اودوئ په دې پوهیدل چی موسی علیه السلام چی دکوم نبی دراتلو زیری ورکړی دی هغه به په نږدی وخت کې دبطحاء له ځمکی څخه راپاڅیږی او دوئ وئ دهغه نبی په انتظارو لکه دهجرت په بیان کې چی موږ درته وویل چی لومړی ځل چی رسول الله ﷺ انصاروته دحج په وخت کې داسلام بلنه ورکړه نودوئ په خپل مینځ کې مشوره وکړه اووې ویل چی داهغه نبی ﷺ معلومیږی چی یهود دهغه یادونه کوی هسی نه چی یهود په دې نیک بختی اوفضیلت کې ترموږ مخکې سی (۲)

(۱) [illegible] جلد ۱ صفحه ۱۷۶

سیف لودین کتابتون

نوله دې څخه دامعلومیږی چی یهودپه دې ښه خبروو چی دکوم نبی دراتلوزیریچې موسی ؑ ورکړی دی دهغه دراتلووخت رانژدی سوی دی په دې وجه یهودپه ځانګړی ډول دهغه ﷺ په خذمت کې حاضریدل خوپه ازل کې چی دچاپرتندی دنیک بختی توری لیکلی وهغه به دنبی کریم ﷺ په لیدوسره سمدستی وپیژندی چی دارښتینی نبی ﷺ دی چی مخکنیو انبیاء علیهم السلام یې زیری ورکړی دی او پرته له شکه اوشبه اوفکرکولو څخه به یې ایمان پر راوړی ، اودچاپه نصیب کې چی به بدبختی لیکلی وه نوهغه بی برخی پاته سو (۱)

ابن عائذ دعروة بن زبیر له لاری روایت کوی ، چی دیهودوپه علماء کې ترټولو مخکې درسول الله ﷺ په خذمت کې یاسربن اخطب یعنی دحیی بن اخطب ورور حاضرسو اودنبی کریم ﷺ خبری یې واوریدی کله چی بیرته ولاړی نوخپل قوم ته یې وویل (اطیعونی فان هذا النبی الذی کنا ننتظر) زماخبره ومنی رښتیاهم داهغه نبی دی چی موږیې انتظارکوی هغه راغلی دی نوپرهغه باندی ایمان راوړی مګر دده ورور حیی بن اخطب دده خبره ونه منله اوپه قوم کې مشر هغه وو قوم دهغه خبره منله پرهغه باندی شیطان غالب سو اودحق له منلویې مخ واړوی قوم دهغه خبره ومنله اودیاسربن اخطب خبره یې ونه منله (۲)

سعیدبن مسیب له ابوهریرة ؓ څخه روایت کوی وایې کله چی رسول الله ﷺ مدینی منوری ته راغلی نوپه بیت المدارس کې چی دیهودیانودمدرسی نوم و دیهودوعلماء سره راټول سومشوره یې وکړه چی له دې سړی څخه باید پوښتنی وسی (اشاره رسول الله ﷺ ته وه) (۳)

بیهقی له ابن عباس ؓ څخه روایت کوی چی یویهودی عالم رسول الله ﷺ ته په داسی وخت کې راغلی چی رسو ل الله ﷺ سورة یوسف تلاوت کوی هغه پوښتنه وکړه اې محمد ﷺ داسورت چادرته ښودلی دی رسول الله ﷺ وفرمایل : الله جل جلاله ماته ښودلی دی ، هغه ډیرتعجب وکی اوسمدستی ولاړی یهودوته یې وویل چی محمد ﷺ قرآن وایې او هغه داسی کتاب معلومیږی لکه څنګه چی پرموسی ؑ باندی نازل سوی وو اودیهودو یوټولی یې له ځان سره راوستی اودرسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو هغه خلکوچی درسول الله ﷺ صورت اوصفات ولیدل سمدستی یې وپیژندی چی داهغه نبی ﷺ دی کوم چی دراتلوزیری په تورات کې ورکړل سوی دی اودنبی کریم ﷺ ددواړو اوږو ترمنیځ یې مهرنبوت هم ولیدی رسول الله ﷺ چی سورة یوسف لوستی هغه یې په ډیرغوروواوریدی دوئ ټول حیران پاته سو اوپرهمدغه ځای یې ایمان راوړی (فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۱۴)

---

(۱) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۳۱۳) — (۲) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۱۴) — (۳) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۱۴)

سیف لودین کتابتون

ابن اسحاق اوبیهقی له ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت کړی دی چی یوځل رسول الله ﷺ ابن صوریاته چی دیهودولوی عالم ووفرمایل چی زه تاته په الله جل جلاله قسم درکوم چی رښتیاووایه په تورات کې دواده سوی زناکاری لپاره دسنګسار حکم سته ؟ ابن صوریا وویل (اللهم نعم اما والله یا ابا القاسم انهم لیعرفون انک نبی مرسل ولکنهم یحسدونک . خصائص کبری جلد۱. صفحه ۱۹۳) قسم په الله عزوجل رښتیاهم په تورات کې دغسی حکم سته او اې ابوالقاسم ﷺ والله چی یهود په دې ښه خبردی چی ته دالله عزوجل رالیږل سوی نبی علیه السلام یې مګر دوئ ستا سره کین کوی اوایمان نه درباندی رواړی)

عبدالله بن احمد په زوائد دمسند کې له جابربن سمرة رضی الله عنه څخه روايت کوی چی یوجر مقانی (۱) سړی راغلی اوله صحابه رضی الله عنهم څخه یې درسول الله ﷺ په اړه پوښتنه وکه چی ستاسو هغه صاحب کوم یو دی چی داګمان کوی چی زه نبی یم هغه چیری دی زه ورځم او یو څو پوښتنی څنی کوم له دې پوښتنو به معلوم سی چی هغه نبی دی که نه دی په دې وخت کې نبی کریم ﷺ راغلی ، جرمقانی ورته مخامخ سو اوورته وې ویل پرتاچی کومه وحی راځی هغه راته واوروه ؟ نبی کریم ﷺ هغه ته دکتاب الله څو آیتونه ولوستل ، جرمقانی چی کله واوریدل وې ویل چی والله داخوهغه رنګه خبری دی لکه موسی علیه السلام چی راوړی دی (۲) دغه رنګه نورهم علماء اوعام یهودیان درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسوی دی اوپه اسلام مشرف سوی دی لکه زیدبن سعنة اوداسی نور (۳)

دعبدالله بن سلام رضی الله عنه ، اسلام راوړل !

عبدالله بن سلام رضی الله عنه (۴) دتورات یولوی تکړه عالم وودیوسف علیه السلام له نسل څخه دی دهغه اصل نوم حصین وو تراسلام راوړو وروسته رسول الله ﷺ عبدالله بن سلام نوم پر کیښود ی عبدالله بن سلام رضی الله عنه دخپل اسلام راوړلو قصه داسی بیانوی دده له خولی به یې واورو ، نوموړی وایې کله چی رسول الله ﷺ مدینی منوری ته راغلی زه هم دهغه په راتګ خبرسوم نودهغه دلیدودپاره ورغلم (فلمارأیت وجهه عرفت ان وجهه لیس بوجه کذاب) ماچی کله دهغه مبارک مخ ولیدی نوماوپیژندی چی دامخ ددروغجن مخ نه دی لومړی خبره چی مادهغه مبارک له څخه خولی واوریدله داوه :ایها الناس اطعموا الطعام وافشوا السلام وصلوا الارحام وصلوا باللیل والناس نیام تدخلوا الجنة بسلام (اخرجه الترمذی والحاکم وصححاه)

اې خلکو خوراک ورکوی اوسلام عام کې اوخپلوی پالې اوپه شپه کې لمنځونه کوی په داسی وخت کې چی خلک غافله بیده وی تاسوبه جنت ته په سلامتیا داخل سی

---

(۱) جرمقانی ، جرامقه ته منسوب دی په عجمو کې دیو قوم نوم دی)

(۲) الخصائص الکبری جلد ۱، صفحه ۱۹۴)

(۳) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۱۴)

(۴) دعبدالله بن سلام رضی الله عنه داسلام قصه په البدایه والنهایه جلد ۳ صفحه ۳۱۰ تر ۳۱۲ یوری وګوری).

سیف لودين کتابتون

په دلائل بيهقي کې د عبدالله بن سلام رضي الله عنه څخه روايت سوی چې ما د رسول الله ﷺ نوم او د هغه صفت او د هغه شکل مخکې لا پيژندی مگر هيچاته مې نه ښکاره کوی کله چې رسول الله ﷺ مديني منوری ته راغلی او ما د هغه خبری واوريدی نو زه هغه وخت د خورماونی ته ختلی وم له هغه ځايه مې په خوشالۍ کې د الله اکبر نعره وکوله زما ترور خالده بنت حارث راته وويل که تا د موسی عليه السلام خبر اوريدلای وای نو تر دې به ډير نه وې خوشاله سوی ما وويل هو قسم په الله جل جلاله دا د موسی عليه السلام ورور نبی عليه السلام دی په هم هغه دين باندی راليږل سوی دی پر کوم دين چې موسی عليه السلام راليږل سوی و زما ترور وويل ای زما وراره آيا دا هغه نبی نه دی چې موږ د هغه خبر اوريدلی دی چې هغه به د قيامت له شپيلۍ سره راليږل کيږی ما وويل هو دا هم هغه نبی دی زه له کوره راووتم د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم او په اسلام مشرف سوم او بيرته راغلم ټولي کورنۍ ته مې د اسلام بلنه ورکه ټولو اسلام و مني (۱)

فايده : د قيامت له شپيلۍ څخه مراد هغه فتني او مصيبتونه دی چې تر قيامت مخکې به ښکاره کيږی او د هغو ښکاره کيدل د قيامت مقدمه دی لکه چې الله جل جلاله فرمايې (نذير لكم بين يدى عذاب شديد) او نبی کريم ﷺ فرمايلی دی (بعثت انا والساعة كهاتين) روض الانف جلد ۲ صفحه ۲۵)

عبدالله بن سلام رضي الله عنه وايې تردې وروسته ما نبی کريم ﷺ ته وويل مخکې تر دی چې زما قوم زما په اسلام راوړلو خبر سی ته ما په يوه خونه کې کښينوه او له يهوديانو زما پوښتنه وکوه څکه يهود ډير بهتان ويونکي قوم دی ؟

نبی کريم ﷺ يهود راوغوښتل او عبدالله بن سلام رضي الله عنه يې په يوه کوټه کې کښينوی له دوئ څخه يې پوښتنه وکړه چې ای يهودو له الله جل جلاله څخه وويريږی قسم په هغه ذات چې له هغه پرته بل څوک د عبادت لائق نسته تاسو په دې ښه پوهيږی چې زه د الله جل جلاله رښتينی رسول يم او په حق سره راليږل سوی يم نو اسلام راوړی ، يهودو وويل موږ په دې نه يو خبر ،رسول الله ﷺ درې ځله غوښتنه ځنی وکړه ، خو دوئ به ويل موږ په دې نه يو خبر چې ته رسول يې ، وروسته يې پوښتنه ځنی وکړه چې عبدالله بن سلام رضي الله عنه په تاسو کې څنگه سړی دی ؟

يهودو وويل چې هغه زموږ مشر او د مشر زوی او په موږ کې تر ټولو ښه عالم او تر ټولو د لوی عالم زوی دی او په موږ کې تر ټولو غوره او تر ټولو د غوره سړی زوی دی ،

نبی کريم ﷺ وفرمايل که عبدالله بن سلام رضي الله عنه پر ما باندی ايمان راوړی بيا خو به تاسو زما نبوت مني ؟ يهودو وويل عبدالله بن سلام رضي الله عنه هيڅ کله اسلام نه راوړی ، رسول الله ﷺ وفرمايل بالفرض که هغه اسلام راوړی ، يهودو وويل (كلا وحاشا) نه هغه هيڅ کله اسلام نه مني دا کيدای نه سی چې هغه دې اسلام قبول کی ، رسول الله ﷺ وفرمايل ای ابن سلام رضي الله عنه د باندی راووزه عبدالله بن سلام د باندی راووتی او دا کلمه يې پر ژبه جاری وه أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ

(۱) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۱۹۷)

عبدالله بن سلام ﷛ ویهودوته وویل اې یهودیانو له الله ﷻ څخه ویرېږی قسم په هغه ذات چی له هغه پرته بل هیڅ حق معبود نسته تاسوپه دې ښه پوهیږی چی محمد ﷺ دالله ﷻ رسول دی اوحق یې راوړی دی ، ددې خبری په اورید وسره یهودو وویل ته دروغجن یې اوپه ټولوکې بداوبدسړی زوی یې (بخاری شریف) په دې اړه داآیت نازل سو :

قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ اللَّهِ وَكَفَرْتُم بِهِ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَىٰ مِثْلِهِ فَآمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (۱۰) آیت سورة الاحقاف)

د میمون بن یامین رضي الله عنه اسلام راوړل !

میمون بن یامین دیهودوله مشرانوڅخه دی دنبی کریم ﷺ په لیدوسره په اسلام مشرف سو اوهغه هم دعبدالله بن سلام ﷛ په څیرمشراوعالم وو میمون بن یامین ﷛ درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چی ته یهودراوغواړه اومادریم جوړکي هغوئ به ماته رجوع کوی، رسول الله میمون ﷛ په یوه خونه کې کښینوی اویهودیې راوغوښتل کله چی یهودراغلو خبری شروع سوی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی تاسو د خپلو خلکوڅخه کوم یوزما اوستاسوپه مینځ کې دریم ګړی ټاکی . یهودو ورته وویل چی موږدمیمون بن یامین ﷛ په حاکم جوړیدو باندی راضی یو هغه چی څه فیصله وکوی موږته منظوره دی ، نبی کریم ﷺ میمون ته غږ وکی کله چی میمون دباندی راووتی وې ویل اشهدانه رسول الله ﷺ مګر یهودیانو له تصدیق کولوانکاروکړ (۱) (فتح الباری جلد ۷، صفحه ۱۱۳باب اتیان الیهود النبی ﷺ حین قدم المدینة

دسلمان (۲) بن اسلام رضی الله عنهٔ اسلام راوړل !

دده مبارک نوم سلمان دی ابوعبدالله یې کنیه دی په سلمان الخیر سره مشهوردی ګواکی سلمان ﷛ دخیرمجسمه وه ، دفارس ملک دراه رمز له شاوخواڅخه وو دجئ علاقی اوسیدونکی وو دفارس دپاچهانوله کورنۍ څخه ووکله چی به چاله سلمان ﷛ څخه پوښتنه وکړه چی ته دچازوی یې ؟ نوده به ځواب ورکوی انا سلمان بن اسلام (۳)

(۱) عیون الاثر جلد ۱، صفحه ۲۰۷،، فتح الباری جلد ۷، صفحه ۱۱۳)

(۲) حافظ عسقلانی وایې چی سلمان فارسی ته سلمان بن اسلام اوسلمان بن خیر ﷛ هم وایې یعنی اسلام دهغه په حق کې په منزله دپلاردی اودئ داسلام په حق کې په منزله دزوی دی (اصابه جلد ۲، صفحه ۶۳) ترجمه سلمان فارسی ﷛ حافظ ابن قیم فرمایې دسلمان ﷛ نوم عبدالله دی اودنسب لړۍ یې په اسلام پوری تړلی یعنی داسلام زوی دی ، فقردده شتمنی وه مسجدد ده هټۍ وه ګته یې صبروو، پرهیزګاری دده جامه وه ، بیداری دده تکیه ، منادی دهغه فخردی (یعنی دنبی کریم ﷺ ارشاددی چی سلمان له موږڅخه دی) اوکه داپوښتنه وکړی چی کوم لوری ته روان یې؟ نودالله ﷻ ذات اودهغه رضااوخوشالی غواړی یریدون وجهه دی ، اوکه داوپوښتی چی هغه چیری تلونکی دی ؟ نوپوه شه ، چی هغه جنت ته روان دی ، اوکه داوپوښتی چی په دې سفرکې دهغه لارښود څوک دی ؟ نوښه پوه سه چی دهغه لارښود امام المتقین هادی الخلائق الی رب العالمین سیدالاولین والاخرین خاتم الانبیاء والمرسلین صلی الله علیه وسلم وعلی آله واصحابه وازواجه وذریاته اجمعین دی)

إِذَا نَحْنُ أَدْلَجْنَا وَأَنْتَ إِمَامُنَا::: كفى بالمطايا طيبُ ذِكراكَ حاديًا ژباړه :کله چی موږپه توره شپه کې ځواوته زموږلارښودیې نوداوښانو دحدی ویلولپاره ستاپاک ذکر کافی دی وَإِنْ نَحْنُ أَضْلَلْنَا الطريقَ وَلَمْ نَجِدْ::: دليلاً كَفانَا نُورُ وَجْهِكَ هَادِيًا ژباړه :اوکه موږ لاره ورکه کړو اوڅوک لارښودونکی له موږسره نه وی نوستادمخ رڼا زموږدلارلی لودپاره ښیخی بس دی (کذافی الفوائدلابن قیم رح ۴۱)

(۳) الاستیعاب للحافظ ابن عبدالبرجلد ۲ صفحه ۶۵حاشیه اصابه)

سیف لودین کتابتون

زمانوم سلمان اوداسلام زوی یم یعنی زمادروحانی وجودسبب اسلام دی اوهمدغه زماپالونکی دی،څومره ښه پلاردی اوڅومره ښه زوی دی .دسلمان فارسی رضی الله عنه عمرډیززیات سوی دی ویل کیږی چی سلمان رضی الله عنه دمسیح بن مریم علیه السلام په وخت کې وو اویوشمیرنوربیاوایې چی دمسیح علیه السلام په وخت کې خونه وو مګر دمسیح علیه السلام دیوه دوست اووصی په وخت کې وو حافظ ذهبی رحمة الله علیه لیکیچی هرڅومره خبری چی دده دعمر په اړه راغلی دی هغه ټول پردې اتفاق دی چی دسلمان رضی الله عنه عمرتردوه نیم سوه کاله اوښتی وو ، ابوالشیخ په طبقات الاصبهانیین کې لیکی ، چی علماء وایې چی سلمان رضی الله عنه درې نیم سوه کاله ژوندی وو مګر په دوه نیم سوه کالو کې خوډ هیڅاخبره نسته ، اصابه ترجمه سلمان رضی الله عنه جلد ۲، صفحه ۶۲) ابن عباس رضی الله عنه فرمایې : چی ماته سلمان فارسی رضی الله عنه دخپل اسلام راوړلوقصه په خپله ژبه داسی بیان کړه : نوموړوی وایې چی زه دفارس ملک دجئ اوسیدونکی وم زماپلاردخپلی سیمی مشروو اوزه ترټولوزمانوباندی ګران وم لکه څنګه چی خلک دپیغلونجونوساتنه کوی زه یې هم دغه شان په کورکې ساتلی وم اوزه به یې دخپل کوردباندی نه پریښودم موږپه مذهب مجوسیان داورعبادت کونکی وو زماپلازه دآتش کدی (دمجوسیانوعبادتخانه) ساتونکی مقررکړی وم چی په هیڅ وخت کې بایداوردرڅخه مړنه سی یوه ورځ زماپلارختی کولی دنه خلاصی په وجه یې زه دځمکی وپتی ته دیوکاردپاره ولیږلم ، زه له کوره راووتم دپتی پرلورروان یم په لاره کې یوه کلیساوه دننه له دې کلیساڅخه آوازونه اوریدل کیدل زه دلیدودپاره دننه ورغلم اوومی لیدل چی دنصاراوو یوه ټولی لمونځ کوی ماته ددوئ عبادت ډیر خوندراکی اوپه زړه کې می وویل چی دادین زموږتردین غوره دی ماله دوئ پوښتنه وکړه چی ددې دین اصل اوریښي چیرې دی ؟ دوئ راته وویل دشام په ملک کې په دې وخت کې لمرلویدی پلارمی له ډیره انتظاره وروسته یوڅوک زماپه لټون پسی رالیږلی وو هغه راغلی زه یې پیداکړم کله چی زه کورته ولاړم نوپلارراته وویل زویه ته چیری تللی وی ؟ ماټوله قصه ورته بیان که پلارراته وویل زویه په دې دین یعنی نصرانیت کې هیڅ خیرنسته ستادپلارنیکه دین یعنی داور عبادت کول ډیر غوره دین دی ماوویل هیڅ کله داسی نه دی قسم په الله جل جلاله چی دنصاراوو دین زموږ تردین غوره دی ، پلار می ډیر په غصه سو اوتردې وینا وروسته یې زه دباندی نه پریښودم اوزماپښوکې یې ولچک اوزولنی واچولی اوداسی یې راته وویل لکه فرعون چی وموسی علیه السلام ته ویلی وو :

قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِينَ (۲۹) ایت سورة الشعراء)

ژباړه :که ته له ماپرته دبل چاعبادت وکوی نوزه به تابندی کړم .

سیف لودین کتابتون

(لکه اوس چې امریکاوایې که هرڅوک زماخبره ونه مني نوموږبه یې په کیوباکې بندیان کړو)ماپه پټه باندي نصاراووته حال ولیږی چې که شام ته قافله تله نوماخبرکې ، یوه ورځ دوئ ماته خبر راکې چې دنصاراوو دتجارانویوه قافله شام ته ځي ماوخت غنیمت وګڼی زولنی مې له خپلوپښوخلاصی کړی اوله کوره راووتلم له دوئ سره شام ته ولاړم اوپوښتنه مې وکه چې دعیسایانو ترټولولوی عالم څوک دی ؟دوئ دیوپادری نوم راوښودی زه هم هغه ته ورغلم اوهغه ته مې ټوله پیښه بیان که اوماورته وویل چې زه غواړم ستاسودین زده کړم زماستاسودین ډیر خوښ دی ته اجازه راکه ستاخذمت به کوم اوله تاسره به لمونځ کوم ده راته وویل سمه ده، زه له هغه پادری سره څه وخت پاته سوم مګر څوورځی وروسته داراته معلومه سوه چې داپادری ښه سړی نه دی ځکه ډیر حریص اوطامع وو بل ته به یې دخیراتو حکم کوی اوکله چې به خلکوروپې راوړی نوده به یوځای خوندی کولی اوساتلی وهیڅ فقیر اومسکین ته یې نه ورکولی په دې طریقه هغه داشرفیو اووه منګیان ډک کړه کله چې هغه مړسو خلکو په ډیره مینه اودرناوی دده دهدیری اوکفن ورکلولپاره راغلو ماخلکوته دهغه حال بیان کی اوهغه اووه منګی می هم وروښودل خلکوچې کله داحالت ولیدی وې ویل قسم په الله ﷻ داسی څوک باید ښخ نه سی دوئ په دار وځړاوو اوسنګساریې کی اودهغه پرځای یې بل عالم کښینوی ، سلمان ﷺ فرمایې :چې ماترهغه زیات عالم اوترهغه لوی عابد اوتقوی داره اوله دنیا لیری اودآخرت په مینه کې اوغوښتنه کې غرق څوک نه دی لیدلی ، اوڅومره چې زماله هغه سره مینه پیداسوه ترهغه زیات مې هیڅ کله له هیچاسره مینه نه وه پیداسوی زه تل دهغه عالم په خدمت کې وم کله چې دده دمرګ وخت رانژدی سو نوماغوښتنه ځنی وکړه چې ته ماته وصیت وکوه اوداراته ووایه چې ترتاوروسته زه دچاخذمت وکړم ده راته وویل په موصل کې یوعالم دی ته بیاهغه ته ولاړسه زه هغه ته ورغلم اوترهغه وروسته په نصیبین کې دهغه دوصیت مطابق یوعالم ته ولاړم اودهغه ترمرګ وروسته دهغه دوصیت مطابق په عموریه کې یوعالم ته ولاړم اووړسره پاته سوم کله چې هغه هم وفات کیدی نوماوویل چې زه دفلانی فلانی عالم سره واوسیدم اوس ته وصیت راته وکړه چې زه چیری ولاړسم هغه عالم راته وویل چې زماپه نظرپه دې وخت کې خوبل داسی څوک نسته چې هغه پرسمه لار وی اوزه تاته دهغه معلومات درکړم خودیونبی دراتلو وخت رانژدی سوی دی چې هغه به دابراهیم ﷺ پردین وی دعربوپه ځمکه کی به دهغه نبی ښکاره کیږی اوهغه نبی به داسی ځمکې ته هجرت کوی چې په هغه ځمکه کې به خورماوی وی که ته هغه ځای ته رسیدای سی نوخامخاځان ورسوه اودهغه علامه به

داوی چی د زکوة مال به نه خوری اوهدیه به قبلوی اوددواړواوږوترمينځ به يې مهرنبوت وی کله چی ته هغه ووينی نووبه يې پيژنی ، په دې وخت کې له ماسره يوځو غواوی اوپسونه اوبزی وی ناڅاپه يوه قافله راغله چی عربوته تله ماهغوئ ته وويل تاسومادځان سره ملګری کې داغواګانی اوپسونه به ټول تاسوته درکړم ،دوئ هم راسره ومنله اوزه يې له ځان روان کړم کله چی وادی قری ته ورسيدو نوله ماسره يې ډير ناوړه چلندوکړ زه يې مريئ جوړکم اوپريوه يهودی يې وپلورلم کله چی زه له هغه يهودی سره راغلم نودخورماوو درختی می وليدی فکر می وکی چی کيدای سی داهغه ځمکه وی مګر تردې وخته می يقين نه وو بيايويهودی له بنی قريظه څخه زمادمالک وخواته راغلی اوزه يې له هغه رانيولم کله چی زه مدينی منوری ته راورسيدم نوقسم په الله ﷻ چی دمدينی په ليدوسره می وپيژندله اودامی يقين سو چی داهغه ښاردی کوم چی ماته هغه عالم راښودلی وو په صحيح بخاری کې په خپله له سلمان ﷺ څخه روايت سوی دی چی زه دغه شان لس ځله وپلورل سوم خلکوسلمان ﷺ په ځوواره په ډيره بی خوندی دخوروپوپه بدل کې خرڅ کی مګر دهغه اصلی قيمت هيچا ونه پيژندی زه له هغه يهودی سره په مدينه منوره کې وم اوپه بنی قريظه کې می دهغه ددرختوکارکوی الله تعالی نبی کريم ﷺ په مکه مکرمه کې مبعوث کی مګر زماپه غاړه کې دمريي توب زنځيروو اود خپل مالک دخذمت په وجه ماته هيڅ معلومات نه کيدی کله چی نبی کريم ﷺ مدينی منوری ته هجرت وکړ اوپه قباء کې دبنی عمرو بن عوف په ځای کې واړول زه په همدې وخت کې دخورمايوی ونی ته ختلی وم کارمی کوی اوزمابادار ترونه لاندی ناست وو يويهودی راغلی چی هغه دمالک داکازوی وو اوداي ووېل الله ﷻ دی بنی قيله يعنی انصارهلاک کی په قباء کې ديوسړی پرشاوخوااټول سوی دی هغه سړی له مکی راغلی دی اووايې چی زه نبی اوپيغمبريم ، سلمان ﷺ فرمايې قسم په الله ﷻ ددې خبرپه اوريدوسره زه ولړزيدم اوزماغالب ګمان داسو چی زه به پرخپل مالک باندی راولويږم دبشيراونذير ﷺ دزيری په اوريدوسره بيهوښه اوبی حال سوم چی که د(لَوْلاَاَنْ رَّبَطْنَا عَلٰی قَلْبِهَا لِتَکُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ(۱۰آيت سورة القصص) مضمون نه وای (۱)نوترونه لاندی به رالويدلی وم دوئ دواړودسلمان ﷺ ودې حالت اوکيفيت ته کتل سخت په تعجب کې وو اودسلمان ﷺ دحال ژبی داشعرلوستی خَلِيْلَیَّ لاَوَاللهِ مَا اَنَا مِنْکُمَا : اِذَا عَلَمٌ مِنْ آلِ لَيْلَی بَدَالِيَا

اې زمادوستانو قسم په الله ﷻ زه اوس له تاسوبيل سوم کله چی ماته دليلی دکور غر ښکاره سو زه په دې خوشالی کې له ونی راکښته سوم اوله هغه يهودی څخه مې پوښتنه وکه چی ته

---

(۱)دی کيفيت ته دصوفيانو په اصطلاح کې وجد وايي اوداآيت په ظاهره کې ددې مأخذدی والله سبحانه وتعالی اعلم)

سیف لودین کتابتون

راته ووایه تاڅه حال بیان کې هغه خبره خولې ماته هم بیان کړه ؟ زمامالک چې زه ولیدم
ډیر په غصه سو اوپه زوره یې یوسوک ووهلم اووې ویل ولاړسه خپل کارکوه په دې کې
ستاڅه کاردی ته خپل کارکوه، ماهم کارشروع کې کله چې ماښام سو اوله کاره روزګار
سوم نوڅه چې زماسره وو هغه می له ځان سره راوړل اودرسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر
سوم نبی کریم ﷺ په قباء کې وو ماورته وویل چې زه په دې خبرسوم چې له تااوستاله
ملګروسره هیڅ نسته تاسوټول بیوزله یاست په دې وجه ستاسو اوستادملګرودپاره داڅه
زکوة راوړې داقبول که ، رسول الله ﷺ دخپل ځان لپاره دزکوة له قبلولوانکاروکی اودایې
وفرمایل چې زه زکوة نه خورم اوصحابه کرام ﷺ ته یې اجازه ورکه چې تاسویې قبول کی ،
سلمان ﷺ وایې چې ماپه زړه کې وویل قسم په الله ﷻ داله هغه درې علاموڅخه یوه
علامه ده زه بیرته ولاړم اوبله ورځ می بیا یوڅه مال جمع کی ، رسول الله ﷺ مدینی ته
تشریف راوړی ووزه هم هلته ورغلم اوغوښتنه می وکه چې زمازړه غواړی چې ستاپه
خذمت کې څه وړاندی کم صدقه خوته نه قبولوی داهدیه می راوړې داقبوله که ، رسول
الله ﷺ هدیه قبوله که اوصحابه کرام ﷺ ته یې هم ورکړه ماپه زړه کې وویل دادویمه علامه
ده زه بیرته ولاړم اودرې ثلور ورځی وروسته بیادنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسوم
نبی کریم په همدې وخت کې له یوجنازی سره بقیع ته راغلی وو اودصحابه کرام ﷺ
یوجماعت ورسره وو نبی کریم ﷺ په مینځ کې ناست ووماسلام واچوی اودنبی کریم
ترشاکښیناستم ددې دپاره چې مهر نبوت ووینم ، رسول الله ﷺ پوه سو اوله شامبارکی
څخه یې پټولیری کي دمهرنبوت په لیدوسره می سمدستی وپیژندی ولاړسوم اومهر
نبوت می مچ کی اوومی ژړل ، رسول الله ﷺ وفرمایل مخ ته راسه زه مخ ته ورغلم اوڅنګه
چې تاته اې ابن عباس ﷺ ماخپله قصه بیان کړه همدغه شان مې داټوله قصه په تفصیل
سره رسول الله ﷺ ته دصحابه ﷺ ووپه مخکې بیان که اوپرهمدغ ځای باندی په اسلام
مشرف سوم ، رسول الله ﷺ ډیر خوشاله سو وروسته زه بیرته دخپل مالک په خذمت بوخت
سوم له دې امله زه دبدر اواحدپه غزاکې شریک نه سوم ،رسول الله ﷺ وفرمایل : اې
سلمان له خپل مالک سره کتابت وکړه(۱) ماخپل مالک ته وویل چې له ماسره کتابت
وکوه هغه راته وویل چې که ته ثلویښت اوقیه سره زر اودرې سوه دخورمانهالان کیږدی
اوهغه میوی ته ورسیږې نوته ازادیې ، مادرسول الله ﷺ په امرورسره ومنله ، اونبی کریم
ﷺ خلکوته ترغیب ورکی چې له سلمان ﷺ سره دخورماپه نیالانوابینودلوکې مرسته
وکوی ، صحابه کرامو ﷺ مرسته راسره وکړه چا په دیرش نهالانو سره چاپه شل اوچاپه

---

(۱) کتابت ودې ته وایې چې مریی له خپل مالک څخه ځان په معلوموپیسوواخلی چې که زه تاته دومره مال درکړم نوازادیم

سیف لودین کتابتون

پنځوس اوچاپه لس مرسته راسره وکوله کله چې نهالان پوره سو نونبی کریم ﷺ ماته وویل اې سلمان ؓ ددې نهالانو دپاره غوچې وکاږه کله چې غوچې تیارې سوې نورسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک هغه ټول نهالان کیښودل اودبرکت دعایې وکړه یو کال لانه ووتیرسوی چې ټولومیوه وکوله اوهیڅ یوه ونه پاته نه سوه ټولې شنې اوغټې سوې اومیوه یې وکوله ، ددرختوقرض خواداسو یوائې سره زر پاته وو یوه ورځ رسول الله ﷺ ته یوسړی دهګۍ په اندازه سره زر راوړل ، نبی کریم ﷺ وفرمایل : هغه مسکین مکاتب یعنی سلمان فارسی ؓ چیرې دی هغه راوغواړې ، زه راغلم دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسوم نورسول الله ﷺ ماته دهګۍ په اندازه سره زر راکړل اودایې وفرمایل چې داواخله الله ﷻ به ستاقرض اداکی ماعرض وکی یارسول الله ﷺ داسره زر خو ډیر لږدی په دې سره زماقرض چیرې اداکیږې رسول الله ﷺ وفرمایل ولاړسه الله ﷻ به ستاقرض په همدې سره اداکی ، کله چې ماهغه سره زر وتلل نوپوره څلویښت اوقیه سره زروو زماټول قرض اداسو اوله مریئ توبه آزادسوم اوله رسول الله ﷺ سره دخندق په غزاکې شریک سوم تردې وروسته زه په ټولو غزاګانو کې له رسول الله ﷺ سره حاضروم (۱)

دمسجدنبوی آبادول !

لومړۍ چې پرکوم ځای درسول الله ﷺ اوښه چوسوه هغه ځمکه دیتیمانو دخورماوو ډاګ وو یعنی خورماوې یې پروچولې نبی کریم ﷺ دهغه ځای پوښتنه وکړه چې داځای دچا ملکیت دی خلکوو ویل چې داځمکه دسهل اوسهیل دی اودواړه یتیمان دی ، رسول الله ﷺ هغه دواړه راوغوښتل ددې دپاره چې داځمکه دمسجد دپاره ځینې واخلې اودهغوئ له اکاسره چې ددوئ پالنه اوروزنه دهغه پرغاړه وه خبره وکړه دوئ دواړو وویل چې موږ هیڅ نه غواړو مګر رسول الله ﷺ داخبره نه ومنله اوقیمت یې ورکی اوځنې رایې نیوله ،
له زهرې رحمة الله علیه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ابوبکرصدیق ؓ ته وویل چې ددې ډاګ دځمکې قیمت ورکړه په یوبل روایت کې راغلی دی چې ابوبکرصدیق ؓ لس دیناره ددې په بدل کې اداکړه (فتح الباری جلد ۷، صفحه ۱۹۲)
وروسته په دې ځمکه باندې چې دخورماکومې ونې وې درسول الله ﷺ دهغو دپریکولو اودمشرکانو دقبرودهوارولو حکم وکی،اووروسته یې دخښتو دمښلوحکم وکی ، اوپه خپله به رسول الله ﷺ دمسجد په جوړولو کې کارکوې انصار اومهاجرین ؓ هم یوځای کار کوې دصحابه کرام ؓ سره به یې په خپله خښتې پورته کولې اوراوړلې به یې اوداشعرونه به یې ویل : هَذَا الحِمَالُ لا حِمَالُ خَیْبَرْ ::::::::::: هَذَا اَبَرُّ رَبِّنَا وَ اَطْهَرُ

(۱) سیرة ابن هشام جلد۱ صفحه ۷۳ ، طبقات ابن سعد جلد ۴، صفحه ۵۳)

سیف لودین کتابتون

دادخیبر دخورماوو بارنه دی اې رب ﷻ دابار ترټولو غوره اوبنه بار دی .
اوکله کله به یې دالوستی اَللّٰهُمَّ اِنَّ الْاَجْرَ اَجْرَ الْآخِرَة ::: فَارْحَمِ الْاَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَة
اې الله ﷻ بیشکه په حقیقت کې خوبدله داخرت بدله دی نوته پرانصارو اومهاجروباندی مهربانی وکړی ..
اوپه یوروایت کې داسی دی : اَللّٰهُمَّ لَاخَيْرَ اِلَّاخَيْرُ الْآخِرَة ::::::::::: فَانْصُرِ الْاَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَة
اې الله ﷻ دآخرت نیکی اوخیرپرته خوبل هیڅ خیر اونیکی نسته نوته دانصارو اومهاجرینو مرسته اوکومک وکوی دوئ یواځی دآخرت نیکی اوخیرغواړی (۱)
اوصحابه کرام ﷺ به داسی ویل :
لَئِنْ قَعَدْنَا وَالنَّبِيُّ يَعْمَلُ :::::::: لِذَاکَ مِنَّا الْعَمَلِ الْمُضَلَّلُ
که موږ کښینو اونبی کریم ﷺ کارکوی نوزموږ داکاریعنی کښینتل به ډیر بدکاروی ..
اوعلی کرم الله وجهه به داشعرلوستی :
لایستوی من یعمر المساجدا :::::::::: یداب فیها قائما و قاعدا
ومن یری عن التراب حائداً
نه دې برابر هغه سړی چی په ناسته او ولاړه دمسجدپه آبادولو کې سرګردان دی له هغه سړی سره چی له جاموخاوری اوګرځ پاکوی (۲)
دخښتوپه راوړونکوکې عثمان بن مظعون ﷺ هم ووعثمان بن مظعون ﷺ په فطری ډول ډیرپاک طبیعته وو په مزاج کې یې پاکی ډیره خوښه وه کله چی به یې خښتی راوړی نوله جاموبه یې لیری نیولی وی اوکله چی به یې پرجاموباندی خاوری اوګرځ پریوتی نوهغه به یې څنډی (رواه البیهقی عن الحسن) علی کرم الله وجهه دا شعر چی (ومن یری عن التراب حائداً) دټوکوپه ډول دعثمان بن مظعون ﷺ دپاره ولوستی (۳)
اوداهم کیدای سی چی دعلی ﷺ ودې ته اشاره وی چی په داسی وخت کې ترپاکی ګرځ اوخاوره غوره ده تردې چی سړی پاک اوصفاوی لکه په حدیث شریف کې چی راځی (الحاج العث التفل) حاجی خوهغه دی چی خړجن اوپه خاورولړی وی ،
اوپه مسنداحمدې له طلق بن علی ﷺ څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ ماته دختی جوړولوحکم وکړ مایيلچه راواخیسته اودختی جوړولودپاره ولاړسوم اوپه صحیح ابن حبان کې راغلی دی چی ماغوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ زه به خښتی راوړم نبی کریم

(۱) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۱۹۳)
(۲) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۱۹۳)
(۳) زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۶۸)

سیف لودین کتابتون

وفرمايل : نه ته ختـه جوړه که ځکه ته په دې کارکې ماهره يې (۱) دامسجد په خپل خرجن حالت کې بې مثاله وو دخامو خښتو ديوالونه وو اودخورماددرختوستنې اودخورما دښا خلواوپاڼو بام يې وو کله چې به باران سو نواوبه به دننه ورتلې (۲) وروسته يې بام ته دختې ګل ورکې ، اوددې مسجداندازه سل ګزه اوږداوتقريباً سل ګزه پلن اودرې لاسه قدرې يې بنيادپه ځمکه کې واچول سو دديوالواوږدوالې يې دانسان ترقد زيات وو دقبلې لورې دبيت المقدس وخواته وواودمسجد درې دروازې جوړې سوې يوه دروازه هغه خواته کېښودل سوه چې اوس دقبلې ديوال دې ، اودويمه دروازه دمغرب وخواته وه چې هغې ته باب الرحمة وايې ، اودريمه دروازه هغه ده چې پرهغې به رسول الله ﷺ تلې راتلې ، چې اوس ورته باب جبرئيل وايې اوکله چې شپاړس يااولس مياشتې وروسته دبيت المقدس قبله کېدل منسوخ سو اووکعبې ته دلمونځ کولوحکم نازل سو نوهغه دروازه چې دمسجددشاوخواته وه هغه بنده سوه اودهغې په بدل کې بله دروازه ورکول سوه دسيرت دعلماء په دې کې اختلاف دې چې دمسجداوږدوالې اوپلنوالې ثومره وو ، بعض وايې سل ګزه اوږد اوسل ګزه پلن وو ،خارجة بن زيدفقيه مدينه وايې :چې دلمر لويدو اولمرختوخواته درې شپېته ګزه وو اوراسته اوچپه خواته ګزه وو اودوه ثلث وو ، خواصلې خبره داده چې دمسجدنبوې دوه ځلې آبادې سوې لومړې چې کله رسول الله ﷺ هجرت وکې اودابوايوب انصارې ؓ په کورکې استوګن وو دويم ځل په کال ۷ هجرې کې دخيبرله فتح وروسته لکه چې په ډېرواحاديثواومختلفورواياتوثابت دې نواول ځل دمسجداوږدوالې اوپلن والې ترسل ګزه کم وو اوپه دويم ځل آبادولوکې ترسلوګزه لږ ثه زيات سو لکه چې ابن جريح له جعفربن عمرو ؓ ثخه روايت کوې چې نبې کريم ﷺ دوه ځلې مسجدجوړکې لومړۍ کله چې نبې کريم ﷺ هجرت وکړمدينې منورې ته په دغه وخت کې دمسجداوږدوالې اوپلنوالې ترسل ګزه کم وواودويم دخيبرله فتح وروسته په کال ۷ هجرې کې مسجدبيرته نوې جوړسو اونوره ځمکه يې هم رانيوله اوپه مسجدېې ګډه کړه لکه چې په معجم طبرانې کې راغلې دې چې رسول الله ﷺ چې کله دمسجدد پراخولونيت وکړ نو مسجدته ثيرمه ديوه انصارې ځمکه وه رسول الله ﷺ هغه انصارې ته

---

(۱) زرقاني جلد ۱، صفحه ۳۶۶)

(۲) له حسن بصرې ؓ ثخه مرسلاً روايت سوې دې چې رسول الله ﷺ فرمايلې دې (ابنوه عريشاکعريش موسى) داسې ثپرکې جوړکې لکه موسى ؑ ثپرچې وو راوې وايې ماله حسن بصرې ؓ ثخه پوښتنه وکه چې دموسى ؑ ثپر ثنګه وو نبې کريم ﷺ و فرمايل چې وبام ته يې لاس رسيدې په يوبل روايت کې راغلې دې چې انصاروثه مال سره يوځای کې اورسول الله ﷺ ته يې وړاندې کې چې په دې باندې مسجدښائسته کړل سې نبې کريم ﷺ وفرمايل (مابې رغبة عن اخې موسى عريش کعريش موسى) زه دخپل وروروموسى ؑ له طريقې ثخه مخ اړول نه غواړم داهم هغه شان ثپردې لکه دموسى ؑ چې وو ، البدايه والنهايه جلد ۳، صفحه ۲۱۵)

سیف لودین کتابتون

وفرمایل چې دا ځمکه دجنت دیوه سرای په بدل کې مسجدته وقف کړه مگر هغه انصاری ﷺ ډیرېیوزله اوتنګ لاسی وو اوډیرواولادونه یې لرل ځکه یې مفته نه سوه ورکولای نوعثمان غنی ﷺ هغه ټوټه ځمکه دلس زره درهم په بدل کې له هغه انصاری رانیوله اودرسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکه چې یارسول الله ﷺ کومه ټوټه ځمکه چې تاله دې انصاری ﷺ څخه دجنت دسرای په بدل کې غوښتې وه هغه له ماڅخه واخله ، رسول الله ﷺ هغه ځمکه دجنت دکور په بدل کې له عثمان ﷺ څخه رانیوله اوله مسجدسره یې یوځای کړه لومړی خښته یې په خپل لاس مبارک کیښوده اوبیادهغه ﷺ په حکم ابوبکرصدیق ﷺ اوبیاعمرفاروق ﷺ اوبیاعثمان غنی ﷺ اوبیاعلی ﷺ کیښوده ددې حدیث سندکه څه هم ضعیف دی مگردمسنداحمداوجامع ترمذی یوروایت ددې تائیدکړی اوحسن الاسنادیې ورته ویلی دی هغه داچې کله باغیانودعثمان غنی ﷺ کورمحاصره کړ نوعثمان ﷺ وویل تاسوپه دې نه یاست خبر چې کله مسجدنبوی تنګ سو نورسول الله ﷺ وفرمایل چې په تاسوکې څوک شته چې هغه دې داټوټه ځمکه اودجنت دیوه کورپه بدل کې واخلی او مسجدته یې وقف کړی اوتاسو په دې ښه خبریاست چې هغه ټوټه ځمکه مارانیوله اومسجدته مې ورکړه خواوس تاسو ماپه همدغه مسجدکې له دوه رکعته لمانځه څخه هم منع کوی ، داروایت په جامع ترمذی کې له ثمامة بن حزن قشیری ﷺ څخه روایت سوی دی امام ترمذی ددې روایت تحسین کړی دی اوهمدغه روایت په مسنداحمداودارقطنی کې له احنف بن قیس ﷺ څخه روایت سوی دی دارنګه ابوهریره ﷺ چې په کال ۷ هجری کې درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسوی دی هغه هم ددې مسجدپه آبادی کې شریک وو لکه چې په مسنداحمدکې په خپله له ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې دصحابه کرام ﷺ سره یوځای به رسول الله ﷺ هم خښتې راوړلې یوځل زه په مخه ورغلم نوومې لیدل چې رسول الله ﷺ ډیرې خښتې را اخیستې دی اوروان دی اوله سینې مبارکې سره لګیږي او خښتوته یې پرسینه مبارکه باندې تکیه ورکړې زه په دې پوه سوم چې ددروندوالی له امله یې پرسینه تکیه ورکړې ماغوښتنه څنې وکړه چې یارسول الله ﷺ ماته یې راکه نبی کریم ﷺ وفرمایل (خذغیرها یااباهریرة فانه لاعیش الاعیش الاخرة) اې ابوهریرة ﷺ نورې خښتې راواخله ربښتیاهم ژوندون نشته مگر دآخرت ژوندی .نوله دې روایت څخه معلومیږي چې ابوهریرة ﷺ په دویم ځل جوړلوکې ووځکه هغه دخیبرله فتح وروسته په کال ۷هجری کې راغلی وو په لومړي کال دهجرت کې دابوهریرة ﷺ ګډون هیڅ امکان نه لری دغه رقم دعمرو بن العاص ﷺ ګډون ځکه هغه په کال ۵ هجری کې په اسلام مشرف سوی دی دمسجدنبوی

سیف لودین کتابتون

په دارالندوه کې دقریشو غونډه او دنبی کریم ﷺ د شهادت مشوره .... (۲۶۱)
فایده .... (۲۶۵)
غار ثور .... (۲۶۶)
پټ رازونه او حکمتونه او داذهمافی الغار آیت تحقیق او څیړنه .... (۲۶۸)
خلاصه دابوبکر صدیق رضی الله عنه دغوره والی .... ([illegible])
فائده .... (۲۷[illegible])
ومدینی منوری ته دنبی کریم ﷺ دروانیدو ورځ او تاریخ .... (۲۷[illegible])
دام معبد رضی الله عنها خیمه .... (۲۸۰)
دسراقة بن مالک قصّه .... (۲۸۳)
دبریده اسلمی رضی الله تعالی عنه داسلام راوړلو قصه .... (۲۸۵)
نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په قباء کښې دمسجدِ تقوی بنیاد کیښودی .... (۲۸۷)
دهجرت تاریخ .... (۲۸۸)
داسلامی تاریخ پیل کله وسو؟ .... (۲۸۸)
دجُمعی لومړنی لمونځ او دجُمعی لومړنی خطبه چې خطبة التقوی ورته وایې .... (۲۸۹)
نکته .... (۲۹۱)
په مدینه منوره کې به دیهودو علماء درسول اکرم ﷺ په خذمت کې حاضرید ل .... (۲۹۵)
دعبدالله بن سلام رضی الله عنه، اسلام راوړل .... (۲۹۷)
دمیمون بن یامین رضی الله عنه اسلام راوړل .... (۲۹۹)
دسلمان بن اسلام رضی الله عنهُ اسلام راوړل .... (۲۹۹)
دمسجد نبوی آباد ول .... (۳۰۴)
دامهات المؤمنین رضی الله عنهن لپاره دحجرو جوړول .... (۳۰۸)
دامهات المؤمنین رضی الله عنهن له مړینی وروسته دحجرو حالت .... (۳۰۸)
دخلفاء راشدینو زیادت په مسجد نبوی کې چې خاتم المساجد ورته ویل کیږی .... (۳۰۹)
دجنازی دلمانځه ځای .... (۳۱۰)
دمهاجرینو او انصارو رضی الله عنهم ورور ګلوی .... (۳۱۱)
دویم ځل ورور ګلوی .... (۳۱۲)
وروڼه .... (۳۱۳)
آذان کله پیل سو .... (۳۱۵)
داذان حکمتونه او معلومات .... (۳۱۷)

سیف لودین کتابتون

ددینار تهولو خزانو کیلی. ایښودل سوی وی هغه نبی ﷺ په څنګه حجرو او څنګه څپرو کې او سیدی صلی الله علیه وآله وازواجه وذریاته واصحابه وبارک وسلم، زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۷۰)

دمسجدنبوی له ودانولو وروسته نبی کریم ﷺ زیدبن حارثه او ابورافع رضی الله عنه مکی ته ولیږل ددې دپاره چی فاطمة الزهراء رضی الله عنها (۱) اوام کلثوم رضی الله عنها اوام المؤمنین سوده رضی الله عنها له ځان سره راولی ابوبکرصدیق رضی الله عنه له دوئ سره عبدالله بن ابی بکر رضی الله عنه هم ملګری کړ چی نوموړی بیا عائشه صدیقه رضی الله عنها او اسماء رضی الله عنها اوام رومان رضی الله عنها او عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه راوستل کله چی زیدبن حارثه رضی الله عنه تهول مدینی منوری ته راورسول نوپر همدې مهال رسول الله ﷺ دابو ایوب انصاری رضی الله عنه له کوره و حجروته نقل سو (رواه الطبرانی عن عائشه صدیقه رضی الله عنها زرقانی جلد ۱ صفحه ۳۷۰)

دخلفاء راشدینو زیادت په مسجدنبوی کې چی خاتم المساجدورته ویل کیږی (۲)

دابوبکرصدیق دخلافت پرمهال په مسجدنبوی کې هیڅ زیادت نه دی سوی یوائې هغه ستنی چی دزړیدو له امله نړیدلی وی دهغو پرځای یې هغه رنګه دخورمادرختی ستنی ودرولی اودعمرفاروق رضی الله عنه دخلافت پرمهال په کال ۱۷هجری کې دقبلی اولمرلویدوپه خواکې مسجدنبوی فراخ سو اودلمرختوخواته دامهات المؤمنین رضی الله عنهن حجری وی ځکه یې په هغه خواکې هیڅ زیادت ونه کړ. عمرفاروق رضی الله عنه یوائې مسجدپراخ کی دمسجد واصلی حالت اوشکل ته یې هیڅ تغیر اوتبدیل نه دی ورکړی یعنی دنبی کریم ﷺ دوخت په څیر یې په خامو خښتو آبادی وکړه اودخورماو ستنی اودخورماوو له ښاخلو اوپاڼو څخه یې بام وو اوپرهغه زاړه هیئت اوشکل باندی یې پرېښودی،

اودعثمان رضی الله عنه دخلافت پرمهال مسجدنبوی هم فراخ سواودخامو خښتوپرځای نقشه لرونکی ډبری کیښودل سوی اوپه قلعی چونه سره یې جوړکي اوستنی یې هم ډبرینی ور

---

(۱) حضرت سیدة الزهراء رضی الله عنها اوام کلثوم رضی الله عنها خوله زیدبن حارثه رضی الله عنه او ابورافع رضی الله عنه سره مدینی منوری ته راغلی او رقیه رضی الله عنها له خپل میره عثمان رضی الله عنه سره مخکې مدینی ته راغلی وه زینب رضی الله عنها دخپل میره ابوالعاص بن ربیع رضی الله عنه سره په مکه مکرمه کې پاته سوه، ابوالعاص رضی الله عنه تردغه وخت نه وو مسلمان سوی دبدرپه جنګ کې چی کله بندی سو نورسول الله ﷺ هغه په دې شرط پرېښودی چی زمالور زینب رضی الله عنها راولیږی کله چی ابوالعاص رضی الله عنه مکی ته راغلی نو زینب رضی الله عنها یې رسول الله ﷺ ته راورسوله، زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۷۰)

(۲) دایو حدیث ته اشاره ده چی صحیح مسلم اونسائی له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کړی دی وایې چی رسول الله ﷺ وفرمایل: زه خاتم الانبیاء یم اوزمامسجد خاتم المساجد دی دالفظ دنسائی دی دمسلم الفاظ داسی دی: زه آخر الانبیاء یم اوزمامسجد اخر المساجد دی، په مسندبزار اوعیون کې داالفاظ دی: اناخاتم الانبیاء ومسجدی خاتم المساجد یعنی زه خاتم الانبیاء یم اوزمامسجد دانبیاء آخری مسجد دی نولکه څنګه چی له رسول الله ﷺ څخه وروسته بل نبی نه راځی دغه شان دهغه له مسجد څخه وروسته به بل نبوی مسجد نه جوړیږی ځکه بل نبی نه راځی دامطلب یې نه دی چی دهغه دمسجد څخه وروسته به په دنیا کې بل مسجد نه جوړیږی.

سيف لودين كتابتون

جوړې کړې اوبام یې دلرګو جوړکې ، عثمان غنی ﷺ چې کله پرنقشه برابر د مسجدنبوی دجوړولو اراده وکه نوپه صحابه کرام ﷺ باندی داخبره ډیره ګرانه سوه چې دمسجدنبوی په سادګی اوهیبت کې څه تغیر اوتبدیل راسی ، عثمان ﷺ چې کله دصحابه کرام ﷺ انکار ولیدی نوخطبه یې ولوسته اوپه خطبه کې یې داسی وفرمایل :انکم اکثرتم وانی سمعت النبی صلی الله علیه وسلم من بنی لله مسجدا بتغی به وجه الله بنی الله له مثله فی الجنة (۱)

تاسوپه دې اړه ډیری خبری کړې دی اومارښتیا له نبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چې څوک یوائی دالله ﷻ درضادپاره مسجد جوړکی نوالله تعالی به دهغه دپاره دهغه مسجد په شان په جنت کې یو کورجوړوی . دهجرت ۲۰ کال دلومړی خورپه میاشت کې دمسجد نبوی بیاابادول پیل سو ترکال ۳۰ هجری دمحرم الحرام په میاشت کې ابادی پای ته ورسیده په دې حساب سره داباد ولووخت لس کاله کیږی (۲)

دامام مالک رحمة الله علیه څخه روایت سوی چې کله عثمان غنی ﷺ دمسجدنبوی ودانول پیل کړه نوکعب احبار ﷺ به دادعاء کوله چې اې الله ﷻ دا ودانی مه پوره کوی خلکوبه ددې سبب پوښتی نوده به فرمایل چې کله داآبادی پوره سی نوسمدستی به له اسمان فتنه نازله سی (۳)

دجنازې دلمانځه ځای !

ابوسعیدخدری ﷺ فرمایې : کله چې نبی کریم ﷺ هجرت وکی مدینی ته راغلی نوپه موږ کې چې به کوم سړی مرګ ته نژدی سو موږ به سمدستی رسول الله ﷺ ته خبرورکی هغه به راغلی اودهغه سړی دپاره به یې دبښنی دعاوکړه تروفات کیدو وروسته به ترښخو لو پوری نبی کریم ﷺ له موږسره وو اوپرنبی کریم ﷺ به ډیر وخت تیریدی وروسته موږ داتسمیم ونیوی چې ترمړینی وروسته به موخبرورکوی ، ترڅه مودیدارواج وو چې ترمرګ وروسته به مونبی کریم ﷺ ته خبرورکوی هغه به راغلی اومړی ته به یې لمونځ ورکی اودمړی دپاره به یې دبښنی دعاوکړه ، کله ناکله به په ښخولو کې هم راسره شریک سو اوکله چې به دجنازې لمونځ وسونوبیرته به تلی له دې وروسته موږ درسول الله دهوساېې لپاره داسی وکړه چې موږ به جنازه راواخیسته اودرسول الله ﷺ کورته به راغلو اورسول الله ﷺ به دخپل کوروڅنګ ته دجنازې لمونځ ورکړ په دې وجه دهغه ځای نوم چیری چې به رسول الله ﷺ دجنازې لمونځ ورکوی (موضع الجنائز) سو (۴)

---

(۱) فتح الباری جلد ۱، صفحه ۴۵۳)
(۲) وفاء الوفاء جلد صفحه ۵۶)
(۳) فتح الباری جلد ۱، صفحه ۴۵۳)
(۴) طبقات ابن سعد جلد ۱، صفحه ۱۴ (قسم ثانی)

سیف لودین کتابتون

په بخاري شریفه کی (۱) له عبدالله بن عمر ﷛ څخه روایت سوی دی چی دجنازی د لمانځه لپاره په مسجدنبوی پوري یوځای خاص سوی وو درسول الله ﷺ همیشه داعادت وو چی هغه به په مسجدکې دجنازی لمونځ نه کوی خوکله چی به یوعذر وو لکه باران یابل داسی نوبیابه یې په مسجدکې دجنازی لمونځ ورکوی

(فتح الباری جلد ۳، صفحه ۱۶۰ ، باب الصلوة علی الجنائز بالمصلی والمسجد)

له دې کبله دامام ابوحنیفه ﷫ اوامام مالک ﷫ مذهب دادی چی په مسجدکې دجنازی لمونځ مکروه دی دامام شافعی ﷫ په نزدجائزدی

دمهاجرینو او انصارورضي الله عنهم ورور ګلوی !

مهاجرین ﷡ چی کله په مکه مکرمه کې دالله ﷻ درضادپاره خپل کورونه اواولادونه اوخپلوان هرڅه پریښودل اومدینی منوری ته راغلو نورسول الله ﷺ ومهاجرینو ﷡ او انصارو ﷡ ته دورورګلوی حکم وکړ، ددې دپاره چی دهیواد، کورنۍ اواولادود بیلوالی اویوائی والی غمونه دانصاروپه مینه اومحبت اودوستی سره بدل سی ،

داړتیاپرمهال یودبل مرسته کونکی اودغم په وخت کې یودبل غمخور اوشریک سی وکمزوری ته دغښتلی دوروګلوی قوت ورسیږی اوکمزوری دقوی لپاره ښۍ لاس سی کمزوری له غښتلی اوغښتلی له کمزوری ګټه واخلی اودمهاجرین اوانصارو ﷡ پاشلی ملغری دروری په مزی وتړی دجلاوالی اوبیلوالی نوم اونښان ورک سی تول پریوه ځای دیوه الله ﷻ رسۍ ټینګه ونیسی کوم جلاوالی اواختلاف چی دبنی اسرائیلو دهلاکت اوبربادی سبب وو داامت مرحومه له هغه څخه بیخی خوندی پاته سی .، اودیوځای والی له امله دالله ﷻ لاس ددوئ پرسرونوباندی سی اوکه دجاهلیت دوخت څه دفخر اومباهات فاسده ماده په زړه کې پاته وی نوپه دې وروړګلوی سره به دهغه بیخ وخیژی اوپه زړه کې به دفخراولویی پرځای خاکساری عاجزی او وروړګلوی اوغم شریکی ولویږی خادم اومخدوم مریئ اوبادار محمود اوایاز به په یوه صف کې ودریږی ددیناټول امتیازات به پای مومی یوائی دتقوی اوپرهیزګاری شرافت اومشری به پاته وی ، إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ (۱۳) ایت سورة الحجرات) په تحقیق سره دالله ﷻ په نزدترټولو ډیرعزتمند هغه څوک دی چی هغه ترټولوډیرپرهیزګاره اومتقی وی .

ددې ښیګڼوپه وجه رسول الله ﷺ دمدینی منوری ترهجرت مخکې په مکه مکرمه کې یوائی مهاجرین ﷡ دورور ګلوی په مزی سره تړلی وو اوترهجرت وروسته دمهاجرینو

(۱) امام بخاری داحدیث د صحیح بخاری په ډیروځایو کې راوړی دی مثلاً باب الصلوة علی الجنائز ، باب المصلی صفحه

سيف لودين کتابتون

او انصارو رضي الله عنهم په مينځ کې وروروَلي قائمه سوه ، لکه چي حافظ ابن عبدالبر فرمايي :
مواخات دوه ځلي سوې دي يو ځل يوائې دمهاجرينو رضي الله عنهم په مينځ کې وو چي يو مهاجر به دبل مهاجر ورور وګرزول سو او دا ورور ګلوي په مکه کې سوې ده او دويم ځل ورورګلوي ترهجرت وروسته د مهاجرينو او انصارو رضي الله عنهم ترمينځ سوې، لکه چي له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت سوې چي رسول الله ﷺ د زبير رضي الله عنه او عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه ترمينځ وروري وکړه او سره له دې دوئ دواړه مهاجرين وو داحديث حاکم او ابن عبدالبر روايت کړی دی او سنديې هم حسن دی او حافظ ضياء الدين مقدسي داحديث په مختار کې له طبراني دمعجم کبير په حواله نقل کړی دی ،
حافظ ابن تيميه رحمة الله عليه وايي په مختاره حديثو کې دحاکم دمستدرک حديثونه ډير قوي او صحيح دي دحاکم په مستدرک کې له ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت سوی دی : چي رسول الله ﷺ د ابوبکرصديق رضي الله عنه او عمرفاروق رضي الله عنه او فلان او فلان ترمينځ ورورګلوي قائمه که ماورته وويل زما ورور څوک دی نبي کريم ﷺ وفرمايل زه ستا ورور يم (۱)
حافظ ابن سيدالناس په عيون الاثر کې فرمايي : چي کوم ورورګلوي چي ترهجرت مخکې په مکه کې سوې وه هغه يوائې دمهاجرينو رضي الله عنهم په مينځ کې وه دهغوئ نمونه دا دي په مکه کې دوروګلوي په مزی تړل سوي ورونه :
ابوبکرصديق رضي الله عنه ،،،،،،،،،، عمرفاروق رضي الله عنه ....حمزه رضي الله عنه ،،،،،،،،،،،،،،،،، زيدبن حارثه رضي الله عنه ...عثمان غنی رضي الله عنه عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ..... زبيربن عوام رضي الله عنه ،،،،،،،،، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه .....عبيده بن الحارث رضي الله عنه ....، بلال بن رباح رضي الله عنه ....مصعب بن عمير رضي الله عنه ،،،،، سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه .....ابوعبيده رضي الله عنه ،،،،،،،،،، سالم دابی حذيفه مريئ رضي الله عنه ......سعيدبن زيد رضي الله عنه ،،،،،،،،، طلحة بن عبيدالله رضي الله عنه ...سيدنا ومولانا حضرت محمدمصطفی ﷺ ،،،،،،،،،،،،،،،،، علی کرم الله وجهه

دويم ځل ورورګلوي

دويم ځل ورورګلوي ترهجرت پنځه مياشتي وروسته (۲) د پنځه شلويښتو مهاجرينو او پنځه شلويښت انصارو رضی الله عنهم په مينځ کې وسوه د انس رضي الله عنه په کورکې سوې ده او يو مهاجر ديوه انصاري ورور وګرزول سو (فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۱۰)
او ديوشميرورونو نمونه په لاندې ډول دی :

(۱) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۱۰

(۲) يوشميرپياوايي چي ورورګلوي دمسجدنبوی ترودانولو وروسته سوې ده او نورپياوايي په کوم وخت کې چي مسجدنبوی جوړيدی په دې وخت کې وسوه ، عيون الاثرجلد ۱، صفحه ۲۰۰)

مهاجر	انصار
ابوبکر صدیق ؓ	خارجة بن زید ؓ
عمر بن الخطاب ؓ	عتبان بن مالک ؓ
ابو عبیدة بن الجراح ؓ	سعد بن ربیع ؓ
زبیر بن عوام ؓ	سلامة بن سلامة بن وقش ؓ
عثمان بن عفان ؓ	اوس بن ثابت ؓ
طلحہ بن عبید اللہ ؓ	کعب بن مالک ؓ
سعید بن زید بن عمرو بن نفیل ؓ	ابی بن کعب ؓ
مصعب بن عمیر ؓ	ابو ایوب خالد بن زید انصاری ؓ
ابو حذیفہ بن عتبہ ؓ	عبّاد بن بشر ؓ
عمار بن یاسر ؓ	حذیفہ بن الیمان ؓ
ابو ذر غفاری ؓ	منذر بن عمر ؓ
سلمان الفارسی ؓ	ابو الدرداء عویمر بن ثعلبہ ؓ
بلال ؓ	ابو ریحہ عبد اللہ بن عبد الرحمن ؓ
حاطب بن ابی بلتعہ ؓ	عویم بن ساعدہ ؓ
ابو مرثد ؓ	عبادة بن صامت ؓ
عبد اللہ بن حجش ؓ	عاصم بن ثابت ؓ
عتبہ بن غزوان ؓ	ابو دجانہ ؓ
ابو سلمہ بن عبد الاسد ؓ	سعد بن خیثمہ ؓ
عثمان بن مظعون ؓ	ابو الهیثم بن تیہان ؓ
عبیدة بن الحارث ؓ	عمیر بن الحمام ؓ
طفیل بن الحارث ؓ	سفیان بن نسر خزرجی ؓ
صفوان بن بیضاء ؓ	رافع بن معلی ؓ
مقداد ؓ	عبد اللہ بن رواحہ ؓ
ذو الشمالین ؓ	یزید بن الحارث ؓ
ارقم ؓ	طلحہ بن زید ؓ
زید بن الخطاب ؓ	معن بن عدی ؓ
عمرو بن سراقہ ؓ	سعد بن زید ؓ
عاقل بن بکیر ؓ	مبشر بن عبد المنذر ؓ
خنیس بن حذافہ ؓ	منذر بن محمد ؓ
سرة بن ابی رُهم ؓ	عبادة بن الخشخاش ؓ
مسطح بن اثاثہ ؓ	زید بن المزین ؓ
عُکاشہ بن محصن ؓ	مجذر بن دمار ؓ
عامر بن فهیرہ ؓ	حارث بن صمّہ ؓ
مهجع (۱) دعمر ؓ مریئ	سراقہ بن عمرو بن عطیہ ؓ

(۱) عیون الاثر جلد ۱ صفحہ ۲۰۱

سیف لودین کتابتون

انصاروﷺ چې کوم دوروړګلوی حق اداء کی اوداخلاص اوځان ځارونی ثبوت یې ورکړهغه په تیرواووروسته کې دهغوهیڅ نمونه اومثال نسته په سروزرو اوسپینوزر ځمکه مال اوشتمنی اوجایدادکې سره شریک کړل له مهاجرینوﷺ سره یې چې کوم چلندی کړی دی هغه خوڅه کوی ځمکی اوباغونه یې مهاجرینوته ورکړه ترديې ټولولویه قربانی داوه چې یوه انصاری ﷺ دوې ښځې درلودی هغه مهاجرﷺ وروړته وویل چې کومه یوه ستاخوښه وی زه به هغې ته طلاق ورکړم ترعدت وروسته به یې ته په نکاح کی خوهغه مهاجرﷺ داخبره ونه منله ، په سنن ابی داؤداوجامع ترمذی کې له انس ﷺ څخه روایت سوی دی چې هرانصاریﷺ به دخپل درهم اودینارترځان خپل مهاجرﷺ وروړ ډیرحقدار شمیری (زرقانی جلد۱، صفحه ۳۷۴)

کله چې مهاجرینودانصاروﷺ ودې به مثال قربانی ته وکتل غوښتنه یې وکوله چې یارسول الله ﷺ وکوم قوم ته چې موږراغلی یو اودلته دیره سوی یو تردوئ غوره اومینه ناک اوغمخور مخلص او وفادار په تنګۍ اوپراخی اوپه هرحال کې مرسته کونکی خلک موږنه دی لیدلی له موږسره دااندیښنه دی چې هسی نه چې ټول اجرونه او ثوابونه دوئ ته ورسیږی اوموږبیخی له اجرڅخه بی برخی پاته سو ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل نه ترڅوپوری چې تاسوودوئ ته دعاکوی (اخرجه ابن سید الناس باسناده عن انس ﷺ عیون الاثر وقال ابن کثیرهذاحدیث ثلاثی الاسناد علی شرط الصحیحین ولم یخرجه احد من اصحاب الکتب الستة من هذاالوجه (۱)

یعنی ددعاء نیکی ددینار اودرهم تربدلی کمه نه ده بلکې دانیکی څه زیاته ده یوڅو روپۍ خوپریږده که ددنیاټولی خزانی دترازوپه یوه پله کې ولویږی او داخلاص یوه دعاپه بل طرف کې ولویږی اوتلل سی نوان شاء الله ثم ان شاء الله همدغه دعاء به درنیږی اوان شاء الله دتعلیق دپاره نه بلکې تبرکاً وتأدباً وایم ،

امام بخاری رحمة الله علیه دصحیح البخاری دکتاب التوحید په باب فی المشیة والارادة په باب کې ډیر داسی حدیثونه ذکرکړی دی چې په هغو کې رسول الله ﷺ دتعلیق په ډول نه بلکې دتبرک په ډول ان شاء الله ذکرسوی دی ،

ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها ته چې به کله سوال کونکی راغلی اودعاء به یې وغو ښتله لکه چې دسوال ګرو طریقه ده نو ام المؤمنین رضی الله عنها به هم هغه فقیرته دعاء وکړه او وروسته به یې څه خیرات ورکی ، چاورته وویل اې ام المؤ منین رضی الله عنها ته سوال ګرته خیرات هم ورکوی اوڅنګه چې هغه تاته دعاء وکوی ته هم هغه رقم دعاء ورته کوی ؟ دې و فر ما یل که زه هغه ته دعاء ونه کړم اویوا ځی خیرات ورکړم نودهغه احسان به پرما پاته سی له د ې امله دعاء ترخیرات ډیره ښه ده په دې وجه به یې ددعاء بدله په دعاء ورکوله ددې دپاره چې زماخیرات خالص پاته سی دهیڅ احسان په بدله کې نه سی ، کذافی المفاتیح شرح المصابیح)

(۱) البدایه والنهایه جلد ۳، صفحه ۲۲۸)

سیف لودین کتابتون

نو کوم سړی چی په پوره اخلاص له یو څورو پوسره د دعاء سودا کولای سی هغه دې هیڅ کله نه شاته کیږی او وخت دې له لاسه نه ورکوی

د دوئ مبارکانو ورورګلوی دومره ټینګه سوه چی د نسب ورورګلوی وګڼل سوه کله چی به انصاری رضي الله عنه وفات سو نو مهاجر رضي الله عنه به د هغه میراث وړی ، لکه چی الله جل فرمایي :

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ (الانفال سورة آيت ۷۲)

ژباړه :ربښتیا هم کوم کسانو چی ایمان راوړی او هجرت یې وکړ او په مالو او ځانو یې جهاد وکړ او هغه کسان چی مهاجرینو ته یې ځای ورکړ او د دوئ مرسته یې وکړه دا خلک یو د بل وارثان دی ،

څه وخت وروسته د میراث حکم منسوخ سو او ټول مؤمنان سره ورونه سو او دا آیت نازل سو (إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ. الحجرات سورة آيت ۱۰) تردې وروسته د ورورګلوی حکم منسوخ سو یوا ځی د مینی او همدردی او غم شریکی مرستی او ساتنی د پاره حکم پاته سو او میراث وړل یوا ځی په نسبی خپلوانو پوری خاص سو (فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۱۰ ، زقانی جلد ۱، صفحه ۳۷۴)

دآذان پیل کله وسو :

دسهار او مازیګر لمنځونه خو دنبوت په پیل کې فرض سوی وو او د معراج په شپه پنځه لمنځونه فرض شو مګر د ماښام څخه پرته ټول لمنځونه دوه دوه رکعته وو تر هجرت وروسته د سفر د پاره ده دوه رکعته حکم پاته سو او په کورکې د ماپښین او مازیګر او ماخستن لمنځونه څلور څلور رکعته سو (رواه البخاری عن عائشه رضي الله عنها)

تر هغه وخت چی اذان لا نه وو شروع سوی نو صحابه کرام رضي الله عنهم به په خپله یو ځای کیدل او لمونځ به یې کوی له دې کبله رسول الله ﷺ ته دا فکر پیدا سو چی د لمانځه د پاره څه علامه په کار دی چی په هغه سره د ټول کلی خلک په یوه وخت په آسانی سره مسجد ته حاضر سی پر دې خبره مشوره غونډه وسوه چاوویل چی ناقوس (۱) دې وو هل سی ، چاوویل چی بوقا (۲) دې وو هل سی چی کله خلک د هغه آواز واوری نو لمانځه ته به راځی مګر رسول الله ﷺ ناقوس خوښ نه کی ځکه له نصارا و وسره مشابهت پیدا کیدی او د بوقا په وهلو سره د یهود سره مشاهبت پیدا کیدی ، لنډه دا چی دادواړه خبری رد سوی د یهود او نصارا وو د مشابهت په وجه چا وویل چی یو لوړ ځای به اور بلوو چی خلک هغه ووینی نو را یو ځای کیږی به رسول الله ﷺ وفرمایل دا د مجوسیانو طریقه ده د مجوسیانو سره د مشابهت په وجه دا خبره و نه منل سوه مجلس پای ته ورسیدی خو هیڅ پریکړه نه

(۱) ناقوس دیو لرګی نوم دی چی هغه به عسایانو په خپله کلیسا کې دیو ځای کیدو د پاره وهی چی خلک ورته نغاره وایې)
(۲) دبوق وهلو طریقه د یهود وه چی په خپل عبادت خانه کې به یې دیو ځای کیدو د پاره وهی

سيف لودين كتابتون

وسوه ، درسول الله ﷺ دفکر اوخيال په عبدالله بن زيدبن عبدربه (١) باندی ډيرزيات اثروکی کله چی هغه ولاړی نوپه خوب کې عبدالله بن زيدوليدل چی يوڅوک چی شنی جامی اغوستی دی اوناقوس يې په لاس کی نيولی دی اوزماپه بغل کې تيريږی ، ماپوښتنه وکه داناقوس خرڅوی هغه سړی وويل ته دادڅه دپاره رانيسی ،ماوويل ددې په وهلوسره به خلک دلمانځه دپاره راغوښتل کيږی هغه سړی راته وويل زه تاته تردی ښه اوغوره شئ وښيم ، ماوويل ولی نه خامخايې راوښيه هغه سړی داسی الفاظ وويل ::

اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللهُ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللهُ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، حَيَّ عَلَى الصَّلاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلاحِ، اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، لا إِلَهَ إِلا اللهُ.

اوبيالږ دابلی خواته سو اواقامت يې راوښودی اووې ويل چی کله دلمانځه دپاره ودريږی نو ترحی علی الفلاح وروسته دوه ځلی قدقامت الصلوة زيات کی کله چی سهار زه رسول الله ﷺ ته راغلم اوخوب مې ورته بيان کی نبی کريم ﷺ وفرمايل (ان هذالرؤيا حق ان شاء الله تعالی) رښتياهم داخوب حق دی که دالله ﷻ خوښه وه (په دې ځای کې دان شاء الله لفظ دتعليق اوشک دپاره نه بلکې دتبرک اوادب دپاره دی لکه مخکې نژدی تيرسوی دی فتذکر)

وروسته نبی کريم ﷺ عبدالله بن زيد ﷺ ته وويل چی داکلمی وبلال ﷺ ته وښوده چی هغه اذان وکوی ځکه دبلال ﷺ آواز ستاتراواز لوړی دی ،بلال ﷺ اذان وکی ، کله چی عمر فاروق ﷺ واوريدی سمدستی يې پټو پراوږه کړ اوله کوره په منډه راووتی اودنبی کريم ﷺ په خذمت کې حاضرسو اووې ويل (يارسول الله ﷺ والذی بعثک بالحق لقدرأيت مثل الذی اری) يارسول الله ﷺ قسم په هغه ذات چی ته يې په حق سره راليږلی يې رښتياهم ماهمداسی خوب ليدلی دی لکه څنګه چی عبدالله بن زيد ﷺ ته ښودل سوی دی ،

ددې خبرپه اوريدوسره رسول الله ﷺ وفرمايل (فلله الحمد) داحديث محمدبن اسحق په دې سند ذکر کړی دی :قال ابن اسحق حدثنی بهذالحديث محمدبن ابراهيم التيمی عن محمدبن عبدالله بن زيدبن عبدربه عن ابيه)

---

(١) په دې اړه عبدالله بن زيد ﷺ داشعرونه وويل :

أَحْمَدُ اللهَ ذُوالجَلاَلِ وذَالإِكرام :::::::: مُحَمَّدًا على الاذان كثيراً

زه دالله ﷻ داذان په نعمت باندی ډير ډير شکر اداکوم

إِذا أَتَانِي بِهِ البَشِيْر من الله ::::::::::: فَأَكرِمْ بِهِ لَدَيَّ بَشِيْرًا

دالله ﷻ له لوری ماته يوزيری کونکی راغلی ،، اوڅومره ښه زيری ورکونکی وو

في لَيَالٍ والى بهن ثلاثٍ :::::::::::::: كلما جاء زادني توقيراً

دري شپې پرلپسی دالله ﷻ زيری ورکونکی راغلی اوهرځل به يې زماپه عزت کې زيادت کوی (سنن ابن ماجه)

سيف لودين كتابتون

اوپه همدې سند سره امام ترمذی اوامام ابوداؤدهم روایت کړی دی ، امام ترمذی وایې چې ماله امام بخاری رحمه الله علیه څخه دمحمد بن ابراهیم تیمی ددې حدیث په اړه پوښتنه وکړه نوهغه وفرمایل چې زماپه نزد داحدیث صحیح دی ، (سنن الکبری للامام البیهقی امام ابن خزیمه په خپل صحیح کې فرمایې (هذاحدیث صحیح ثابت من جهة النقل) داحدیث صحیح دی اوپه اعتبار دنقل اوسند سره ثابت اومستند دی ، محمد بن یحی ذهلی هم دې حدیث ته صحیح ویلی دی امام ترمذی فرمایې :حدیث عبدالله بن زید حدیث حسن (۱) عبدالرحمن بن ابی لیلی فرمایې چې ماته درسول الله ﷺ ملګرو ﷺ بیان کړی دی چې عبدالله بن زید ﷺ دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو اووې ویل چې یارسول الله ﷺ ماپه خوب کې ولیدل چې یوسړې دوه شنه پټوان اغوستی وی اول پردیوال وخیژی اودوه ځله آذان وکوی اوبیارا کښېنسته سو اودوه ځله یې اقامت وکی .

حافظ علاء الدین ماردینی وایې چې ددې حدیث ټول راویان دبخاری په شرط برابر دی ، جوهرنقی برحاشیه سنن کبری جلد۱، صفحه ۴۲۰ اوپه معجم الاوسط للطبرانی کې راغلی دی چې ابوبکرصدیق ﷺ هم همداسې خوب ولیدی

داذان حکمتونه اومعلومات ؛

ترایمان وروسته دلمانځه درجه ده اولمونځ په جماعت آداکول ډیر ضروری دی اوپه یوه وخت اویوه ځای کې دخلکوراټولیدل بیله اعلان اوخبرداری نه کیږی، رسول الله ﷺ په مجلس کې ددې یادونه وکړه، چاوداوربلولو مشوره ورکړه چادښکردڼغ وویل اوچا د سورناړغولو وویل خورسول الله داټول رد کړه ځکه په اورکې له مجوسو سره مشابهت راتلی اوپه ښکروهلو کې له یهودو سره مشابهت راتلی اوپه سورناړغولو کې له نصارا وو سره مشابهت راتلی نو مجلس بیله څه پریکړی پای ته ورسیدی اودوئ خپلو کوروته ولاړو (۱) لومړی :هغه وخت عبدالله بن زیدبن عبدربه ﷺ ته اذان اواقامت په خوب کې وښودل سو عبدالله بن زید ﷺ خپل خوب رسول الله ﷺ ته بیان کی نبی کریم ﷺ وفرمایل چې داخوب حق اوربښتیادی یعنی دالله ﷻ له لوری څخه دی داخوب له نفس او شیطان څخه نه دی په ښو خوبو اوالهام سره که څه هم حکم یقینی نه سی ثابتیدلای مګر درسول الله ﷺ تصدیق اوتقریر یعنی دهغه داعمل جاری کول داخوب دوحی جلی په حکم کې وګرزوی اوپه هم هغو الفاظو سره رسول الله ﷺ خلکوته دآذان کولو حکم وکی ترڅو چې آذان ددین له شعائرو څخه داسلام یولوی شعار وګرزیدی اوددین اسلام یو خاص نښه اوعلامه سوه

---

(۱) نیل الاوطار جلد ۲، صفحه ۶

(۲)، الفتوحات الربانیة علی الاذکار النوویة للشیخ ابن اعلان المکی جلد ۲، صفحه ۷۰

سیف لودین کتابتون

(۲) دذان د کلمو جوړښت او ترتیب هم ډیر عجیب دی چی په یو څو کلمو کې د اسلام پردرې بنیادی اصولو توحید، رسالت او آخرت باندی مشتمل دی په الله اکبر کې د الله ﷻ دلویې او عظمت بیان دی او په اشهدان لااله الاالله کې دتوحید اثبات اودشرک نفی دی، او اشهدان محمداً رسول الله کې درسالت اثبات دی او ددې خبری اعلان دی چی دالله تعالی پیژندنه او دهغه دعبادت طریقه موږ ته ددې حق نبی ﷺ په ذریعه معلومه سوه، او دتوحید اورسالت تراعلان وروسته خلک ترټولوغوره اوښه عبادت لمونځ ته په حی علی الصلوة ویلوسره راوبلل سو او په پای کې دحی علی الفلاح په ویلوسره دهمیشه کامیابی وخواته بلنه ورکول کیږی چی په دې واخرت ته اشاره کیږی چی که همیشه کامیابی غواړی نو دحقیقی بادارپه اطاعت اوبندګی کې مصروف سی له خلاصون څخه دآخرت همیشه کامیابی مراددی او په پای کې د الله اکبر لااله الاالله چی الله ﷻ تر ټولو لوړدی دهغه څخه پرته څوک دبندګې لائق نسته خلکوته دالله عزوجل لوی والی ښه یې (۱) چاته چی الله تعالی یوه ذره دصحی عقل ورکړی وی هغه دآذان وکلماتوته په یوسرسیرن نظرسره دافهمولای سی چی اذان یېنخی دحق بلنه اودعوت دی او الله ﷻ ته دراغوښتو نکی اوازدی اودیهودو اونصاراوو اوداسی نوروډول اوناقوس اواوربلول لوبی اوتما شې دی دالله تعالی دلویی اوعظمت اودهغه دخدایی اویووالی په اعلان سره بنده الله تعالی ته رسیدی سی، دډولو اوتنبلوپه آواز وسره هیڅ کله الله ﷻ ته نه سی رسیدلای.

این ره که تومی روی بتر کستان است

(۳) داذان مشروع کیدل دخوب په ذریعه په ښکاره په دې وجه وسو چی اذان درسول الله ﷺ دنبوت اورسالت پراعلان باندی مشتمل دی اودرسول الله ﷺ دنبوت اورسالت خپرول اودهغه ددین ولوری ته رابلل دی، اودابلنه ورکول دمریانو اوخادمانو فریضه دی

دمعراج په شپه الله تعالی رسول الله ﷺ ته په ښکاره دلمانځه حکم وکړ اوداسمانو په مخلوق وګرزیدی هغه ته اذان واورول سو په آسمان کې ملائکه وو اذان وکی رسول الله ﷺ واوریدی لکه چی په خصائص کبری کې له علی کرم الله وجهه څخه روایت سوی دی (۲) اوله عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه روایت سوی چی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی جبرئیل علیه السلام په اسمان کې اذان وکی اوزه یې دامامت دپاره مخکی کړم وروسته ما ملائکه وو ته لمونځ ورکی (۳)

(۱) قال القرطبی وغیره الاذان علی قلة الفاظه مشتمل علی مسائل العقیدة لانه بدأ بالاکبریة وهی تتضمن وجود الله وثم ثنی بالتوحید ونفی الشریک ثم باثبات الرسالت محمد صلی الله علیه وسلم ثم دعا الی الطاعة المخصوصة عقیب الشهادة لانها لاتعرف الامن جهة الرسول ثم دعاء الی الفلاح وهو البقاء الدائم وفیه الاشارة الی المعاد ثم اعاده ما اعادتوکیداً (فتح الباری جلد ۲، صفحه ۶۳)

(۲) الخصائص الکبری جلد ۱، صفحه ۱۶۳

(۳) الخصائص الکبری جلد ۱، صفحه ۱۶۷

اوترهجرت وروسته چی کله دجماعت دلمانځه دیوځای کیدوو لپاره دټولود خبرولو اړتیا پیښنه سوه نوعبدالله بن زید ﷺ ته په خوب کې اذان اواقامت وښودل سو اوعبدالله بن زید ﷺ چی کوم اذان اواقامت په خوب کې واوریدی رسول الله ﷺ له اوریدوسره سم پوه سو چی داهغه اذان اواقامت دی چی مادمعراج په شپه په اسمان کې اوریدلی ووځکه رسول الله ﷺ دخوب په اوریدلوسره سمدستی وفرمایل (انهالرؤیاحق) دارښتینی خوب دی یعنی ماچی په ویښه دمعراج په شپه اوریدلی وولههغه سره برابردی .

(۴) داذان اواقامت په اړه مختلف روایتونه راغلی دی دابومحذوره ﷺ په اذان کې ترجیع راغلی ده ، چی په هغه کې داذان نولس کلمی دی اوداقامت اولس کلمی دی امام شافعی رحمه الله علیه دابومحذوره اذان غوره کړی دی ..امام ابوحنیفه رحمه الله دعبدالله بن زید ﷺ دحدیث مطابق اذان غوره کړی دی ځکه داذان اصل مشروعیت دعبدالله بن زید ﷺ په خوب پوری تړلی دی اوعمرفاروق ﷺ هم دهغه په څیرخوب ولیدی ، اوشیخ ابن اعلان مکی رحمه الله علیه (۱) په شرح دکتاب الاذکارجلد۲ صفحه ۷۰ کې فرمایې چی په معجم طبرانی کې راغلی دی ، چی ابوبکرصدیق ﷺ هم همدغسی خوب ولیدی اونبی کریم ﷺ ته یې هغه خوب بیان کړاوهغه ﷺ یې تصدیق وکی اودهغه برابر یې بلال ﷺ ته داذان کولوحکم وکړ ، ځکه دعبدالله بن زید ﷺ اذان دهغه اذان مطابق وو کوم اذان چی په اسمان کې رسول الله ﷺ دمعراج په شپه دجبرئیل علیه السلام څخه اوریدلی وو اودجبرئیل علیه السلام په وینایې ملائکه ووته لمونځ ورکړی وو په حدیث کې راغلی دی چی عبدالله بن زید ﷺ چی کله خپل خوب رسول الله ﷺ ته بیان کی ، نودایې وفرمایل چی دا اذان چی تاته په خوب کې ښودل سوی دی بلال ﷺ ته وښیه ځکه دهغه ږغ ترتا لوړدی اوغټ دی تردې وروسته به بلال ﷺ دنبی کریم ﷺ په ژوندکې هغه اذان کوی هغه اذان چی عبدالله بن زید ﷺ ورته ښودلی وو اوپه احادیث صحیحه ووسره داخبره ثابته سوی ده چی دعبدالله بن زید ﷺ په اذان کې ترجیع نه وه ، اودا اوس تیره سوه چی ابوبکرصدیق ﷺ اوعمرفاروق ﷺ هم همدغسی خوب ولیدی څنګه چی عبدالله بن زید ﷺ لیدلی وو اوپه هغه کې ترجیع نه وه ،ځکه امام ابوحنیفه رحمه الله ددې وجوه پربناباندی داذان هغه کیفیت غوره کړی دی کوم چی دعبدالله بن زید ﷺ په حدیث کې ذکرسوی دی .

(۵)لکه څنګه چی اذان داسلام لوی شعاردی اودهغه په کلماتو کې خاص انواراوبرکتونه دی په دې وجه په شریعت کې داحکم سوی چی کله ماشوم پیداسی نودهغه په غوږ کې دی اذان وسی ددې دپاره چی ترزوکړی وروسته ترټولومخکې دتوحیداورسالت آوازدهغه غوږ وته ورسیږی ددې دپاره چی دالست تیره ژمنه وریاده سی .

---

(۱) وفی الاوسط للطبرانی ان ابابکر ﷺ رآه ایضاً وفی الوسیط رآه بضعة عشررجلا الخ کذافی الفتوحات الربانیة علی الاذکار النوویة جلد۲ صفحه ۷۰ وقال العلامة الزرقانی وقع فی الاوسط والطبرانی ان ابابکرصدیق ﷺ ایضارأی الاذان . اخرجه من طریق زاذان بن الهذیل عن ابی حنیفة عن علقمة ابن مرثد عن بریدة عن ابیه ان رجلامن الانصار . الحدیث قال الطبرانی لم یروه عن علقمة الاابوحنیفه رحمه الله علیه . زرقانی جلد۱ صفحه ۲۷۷)

سیف لودین کتابتون

له مکي مکرمي څخه هجرت ومديني منورې ته :

په مدينه موره کې چې کله اسلام خپور سو نو صحابه ؓ د خپل دساتنې دپاره له مکې څخه مدينې ته هجرت وکې ددې دپاره چې په ډاډه زړه د اسلام احکام پر ځان عملي کې او په امن سره د الله ﷻ بندګي وکړل سي .

وَعَزَمَ الصِّدِيْقُ اَنْ يُهَاجِرا (١) :::::::::::: فَرَدَّهُ النَّبِيُّ حتى هَاجَرَا

مَعًا اِلَيْهَا فَتَرَافَقَا اِلَى :::::::::::::::: غَارٍ بِثَوْرٍ بعد ثُمَّ ارْتَحَلاَ

کله چې مسلمانانو هجرت پيل کړ او يو تر بل وروسته مدينې ته ولاړل نو ابوبکر صديق ؓ هم د هجرت اراده وکړه مګر نبي کريم ﷺ د خپل ملګرتيا په وجه له هجرت کولو منع کې تر څو چې نبي کريم ﷺ او ابوبکر صديق ؓ دواړو پر يوه ځای هجرت و کې لومړۍ له کوره ووتل او په غار ثور کې پټ سو او تر درې شپو پاته کيدو وروسته مدينې ته روان سو :

ومعهما عامرٌ مولى الصديق ::::::::::: وابن اريقط دليلٌ للطريق

او له دوئ سره د ابوبکر صديق ؓ ازادسوی مريئ عامر بن فهيره ؓ وو او عبدالله بن اريقط د لارې د ښودلو دپاره ورسره ملګری وو

فَاَخَذُوا نَحْوَ طَرِيْقِ السَّاحِلِ :::::::::: وَالْحَقُّ لِلْعَدُوِّ خَيْرُ شَاغِلِ

دوی د سيند پر غاړه غاړه روان سو ، او الله ﷻ د دوئ د ښمنان بوخت وساتل او دوئ روغ رمټ ومدينې منورې ته ورسيدل

تَبِعَهُمْ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِک ::::::::::::::يُرِيْدُ فَتْكًا وهو غَيْرَ فاتک

سراقه په دوئ پسې سو او د هغه مبارک دوژلو اراده يې کړې وه مګر هغه کله وژلې سي ځکه الله ﷻ د هغه سره وو

دلومړی خور د مياشتي په دوولسمه ورځ روغ جوړ په خير او برکت سره قباء ته ورسيدل ؛؛

اَقَامَ اَرْبَعًا لَدَيْهِمْ وَطَلَعَ :::::::::: فِي يَوْمِ جُمْعَةٍ وَصَلَّى وَجَمَعَ

څلور شپې يې په قبا کې تيرې کې ، د جمعې په ورځ مدينې ته روان سو په لاره کې د جُمعې لمونځ ادا کړ .

فِيْ مسجدالجمعة وهى اول ::::::::: ماجَمَعَ النبى فيما نقلوا

په جامع مسجد کې يې لمونځ اداء کې او دا د نبي کريم ﷺ اول د جُمعې لمونځ وو په قباء کې څلور ورځې پاته سو دا د سيرت د علماء خبره ده ، د بخاری او مسلم روايت په لاندې شعرو کې کې راځي :

---

(١) په يهاجرا کې الف اشباعي دی او د دويمه مصرع په هاجرا کې الف د تثنيه دی چې ضمير دهما راجع دی و نبي کريم ﷺ او ابوبکر صديق ؓ ته)

سیف لودین کتابتون

وقیل بَلْ اَقَامَ اَرْبَعَ عَشرَة ::::::::::فِیْهِمْ وهُمْ یَنْتَحِلُوْنَ ذِکْرَه

یوشمیربیا وایې چې په قباءکې څورلس ورځې پاته سو :او عالمان او محققین ودی ته مائل دی

وهُوَالذیْ اخرجه الشیخان ::::::::لکن مامَرّ من الا تیانِ

بمسجدالجمعة ویوم الجمعة :::::: لایستقیم مع هذه المدّه

اِلاّ علی القول بِکَوْن القدمَهْ :::::::: الی قبا کانت بیوم الجمعة

په بخاری او مسلم کی راغلی دی چی رسول الله ﷺ په قباء کې څورلس شپې پاته سو مګر پردې تقدیردا سوال کیږی چی رسول الله ﷺ قباء ته ددوشنبې په ورځ رسیدلی دی اودجمعی په ورځ مدینی منوری ته روان سو نوهغه په دې حساب په قباء کې څلورشپې پاته سوی دی که په همدغه جمعه مدینی ته روان سوی وی او که ددویمه جمعه په ورځ روان سوی وی نوبیا دولس شپې په قباءکې میشت سوی دی که راتلونکی جمعه روانیدل واخلی پرهرحال دبخاری او مسلم دروایت پربناء باندی دڅورلس شپوپاته کیدل نه صحیح کیږی مګر هغه وخت صحی کیږی چی وقباء ته رسیدل ددوشنبې پرځای دجمعی په ورځ ومنی نوبیاله شنبی ترپنځ شنبی پوری څورلس ورځی کیږی ..

بَنَی بِهَا مَسْجِدَهُ وَارتحَلَا ::::::::::: بطیبة الْفَیْحَاءِ (١) طَابَتْ نُزُلًا

اوپه قباء کې دمیشتیدوپه وخت کې یې دمسجدقباء بنیاد کیښودی : اوبیایې له قباء څخه مدینی ته سفروکړ .

لَمَّادَعَاعَلَیْهِ سَاحَتِ الْفَرَسْ ::::::::::::: نَادَاهُ بِالاَمَانِ اِذْعَنَهُ حَبَسَ

درسول الله ﷺ سترګی مبارکی چی کله پرسراقه ولګیدی نوهغه ته یې ښیرا وکه په دغه وخت کې دسراقه آس په ځمکه ښخ سو سراقه مجبوره سو اوله نبی کریم ﷺ څخه یې دامن غوښتنه وکړه ..

مَرُّوا عَلَی خَیْمَةِ اُمِّ مَعْبَدِ:::::::::: وَهِیَ عَلَی طَرِیقهم بِمَرْصَدِ

په لاره کې دام معبدپه خیمه باندی تیرسو اودهغې خیمه دلاری وڅنګ ته وه

وَعِنْدَهَا شَاةٌ اَضَرَّ الْجُهْدِ:::::::::::: بِهَا وَمَا (٢)بِهَا قُوَی تَشْتَدُّ

دام معبدپه خیمه کې یوه میږه ولاړه وه چی دناجوړی اوډیری کمزوری له وجی په دې کې دګرزیدوتوان هم نه وو پاته چی هغه له رمی سره تللی وای له دې کبله هغه په خیمه کې پاته سوی وه

فَمَسَحَ النَّبِیُّ منها الضَّرْعَا :::::::::::::وَحَلَبَتْ ماقدکفاهم وُسْعًا

نبی کریم ﷺخپل لاس مبارک دمیږی پرغولانځوراکش کی وروسته هغی دومره شیدی وکولی چی دټولو بشه پوره بس سوی اوټول په ماړه سو

وَحَلَبَتْ بَعْدُ اِنَاءً آخرا ::::::::::::::: تَرَکَ ذاک عِنْدَهَا وَ سَافَرَا

تردې وروسته یې یوبل لوښي له میږی ولوشوی اوهغه له شیدو ډک سو هغه لوښی له ام معبدسره پاته سو اودوئ روان سو دغه شان حافظ عراقی په الفیه السیره کې فرمایې :

---

(١) الفیحاء معنی الواسعة) ———— (٢) کلمه مانافیة ١٢)

سیف لودین کتابتون

نبي کريم ﷺ له قباء څخه ومديني منورې ته ورسيدی :

حَتَّى اَتَى اِلَى قباءِ ::::::::::::::::::نَزَلَهَا بالسَّعْدِ وَالْهَنَاءِ

فِيْ يَوْمِ الاِثْنَيْنِ لِثِنْتَى عَشْرَةَ ::::::::::::::مِنْ شَهْرِ مَوْلُوْدٍ فَنِعْمَ الْهِجْرَة

کله چې رسول الله ﷺ قباء ته ورسيدی نو کښته سو په نيک بختی او عزت سره د دوشنبې په ورځ دلومړی خور په دوولسمه دهغه مياشتې چې دئ مبارک په کښې زوکړی دی نو دا څومره ښه او مبارک هجرت دی فبركت ناقته المأمورة:::::::::::::::::: بِموضِعِ الْمَسجد فِي الظَّهِيْرَه

بيا دهغه مبارک اوښه چې د الله ﷻ له لورې امرسوی وه دغرمې په وخت کې مدينې ته ورسيده او دمسجد نبوی پرځای پريوتله

فحل فى دار ابى ايوبا :::::::::::::::::::::: حتى ابتنى مسجده الرحيبا

دابوايوب انصاری ﷺ دکورمخ ته چوه سوه رسول الله ﷺ هم دلته اوسيدی ترڅو يوفراخ مسجد جوړ کی وَحَوْلَهُ منازلاً لِاَ هله :::::::::::::::وَحَوْلَهُ اصحابِهِ فى ظِلِّهِ

او د مسجد شاوخوا يې دامهات المؤمنين دپاره حجری آبادی کی کله چې دحجرو ودانول پوره سو نو دابوايوب ﷺ له کوره حجرو ته نقل سو او د رسول الله ﷺ دنژديوالی په وجه صحابه ﷺ وو هم هغې خواته کورونه جوړ کړل ..

طابت به طيبة من بعد الردى :::::::::::::::::::::: اشرق ماقد كان مها اسودا

مدينه مخکې خرابه او برباده وه خو د رسول الله ﷺ په راتلو سره پاکه سوه مخکې تياره وه اوس روښانه سوه...له انس ﷺ څخه روايت دی چې کله رسول الله ﷺ مدينې ته راغلی نو هرشئ روښانه سو (رواه الترمذی فى المناقب وقال صحيح غريب ، زرقانی جلد ١، صفحه ٣٥٩)

كانت لمن اوباء ارض الله :::::::::::: خزال داءها بهذا الجاه

د مدينې ځمکه ډيره وبائی ځمکه وه د مدينې وباء د رسول الله ﷺ په برکت سره پورته سوه

ونقل الله بفضل رحمه :::::::::::::::::::::ماكان من حى بها للجحفة

الله ﷻ په خپل مهربانی سره د مدينې تبه جحفې ته واړوله . په بخاری او مسلم کې له عائشه صديقه ﷺ څخه روايت سوی چې کله رسول الله ﷺ مدينې ته تشريف يوورې نو د مدينې په ټوله ځمکه کې وباء وه رسول الله ﷺ له الله ﷻ دعاء وغوښته چې يا الله ﷻ مدينه پاکه کې او دهغې وباء او تبه جحفې ته نقل کړې ، دا حديث د صحيح بخاری په ډيرو بابو کې يادسوی دی باب فضائل المدينه او كتاب المرضى او كتاب الدعوات کې

قال ابن اسحق وذكر ابن شهاب الزهرى عن عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ ان رسول الله ﷺ لماقدم المدينة هو واصحابه اصابتهم حمى المدينة حتى جهدوا مرضاً وصرف الله ذلك عن نبيه صلى الله عليه وسلم حتى كانوا مايصلون الاوهم قعود قال فخرج عليهم رسول الله صلى الله عليه وسلم وهم يصلون كذلك فقال لهم اتعلمون ان صلوة القاعد على النصف من صلوة القائم قال فتجشم المسلمون القيام على مابهم من الضعف والسقم التماس الفضل سيرة ابن هشام جلد١/ص/٢١٦)

سیف لودین کتابتون

ژباړه : له عبدالله بن عمرو بن العاص ﷛ څخه روایت سوی چې نبی کریم ﷺ او دهغه ملګرو ﷡ چې کله مدینې ته هجرت وکی نو په ډیره سخته تبه اخته سو او صحابه کرام ﷡ دومره کمزوری سو چې په ناسته یې لمنځونه شروع کړه یوه ورځ رسول الله ﷺ پر لار تلی وې لیدل چې صحابه ﷡ په ناسته لمونځ کوی رسول الله ﷺ وفرمایل چې په ناسته لمونځ کونکی ته دولاړې دلمونځ کونکي نیمایې ثواب رسیږی تردې خبری وروسته صحابه کرام ﷡ ډیر تکلیف پرځان یووړی او په ولاړه یې لمنځونه کول ددې دپاره چې دولاړې ثواب هم حاصل کی (سیرة ابن هشام جلد ۱، صفحه ۲۱۶)

لیس دَجَّالٌ ولاطاعون :::::::::::::: یدخلها فحرزها حصین

ومدینې منورې ته نه دجال داخلیدی سی اونه طاعون مرض ددې ټولو آفتو لپاره مدینه یوه ټینګه کلا ده لکه چې په بخاری اومسلم کې له ابوهریره ﷛ څخه روایت سوی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : دمدینې پر لار وباندې دملائکو پیره ولاړه دی نه ومدینې ته دجال داخلیدای سی اونه طاعون امام بخاری داحدیث په فضائل مدینه اوکتاب الطب اوکتاب الفتن کې ذکر کړی دی

اقام شهراً ثم بَعْدُ نزلت :::::::::::: علیه اتمامُ الصَّلوٰة کملت

دیوی میاشتی له اوسیدو و روسته په لمانځه کې دوه رکعته زیات کړل سو اود مسافر لمونځ دوه رکعته پاته سو لکه څنګه چې مخکې وو په بخاری اومسلم کې له ام المؤمنین عائشه صدیقه ﷴ څخه داروایت سوی دی :

اَقَامَ شهرًا ربیع لِصَفَرْ :::::::::::::::::::: یُبْنَی لَهُ مسجد

دلومړی خور له میاشتی څخه بیاتر صفری پورې دمسجد نبوی په جوړولو بوخت سو

وَوَداع الیهود فی کتابه ::::::::::::::: مَا بَیْنَهُمْ وبین اصحابه

او په دې وخت کې دیهود او صحابه کرام ﷡ په مینځ کې رسول الله ﷺ یوه پریکړه ولیکله

وکان امرُ البدء بالاذان :::::::::::::: رؤیا ابن زید او لعامٍ ثان

اوداذان پیل دعبدالله بن زید ﷛ دخوب له وخته وسو داپیښه دهجرت په اول کال یاد هجرت په دویم کال وسو دعلماء په دې کښې اختلاف دی ..

دمدینې منورې له یهودو سره پریکړه لیک لاسلیک سو

په مدینه منوره کې ډیره آبادی داوس اوخزرج قبیلو وه مګر له ډیری مودی راهیسی یهود ملعونین هم دلته آبادوو اوددوئ پوره شمیر په مدینه منوره اوخیبر کې میشت وو ددوئ مدرسی اوعلمی مرکزونه په مدینه کې وو اوپه خیبر کې ددوئ ډیری ټینګی کلاګا نی وی یهود خواهل کتاب وو اودحجاز په ځمکه کې دمشرکینو په مقابله کې دوئ په علمی لحاظ لوړ اوممتاز وو دوئ ته له اسمانی کتابو څخه دنبی آخرزمان حالات اوصفتونه ښه معلوم وو لکه چې الله تعالی فرمایي (یَعْرِفُوْنَهٗ کَمَا یَعْرِفُوْنَ اَبْنَاءَهُمْ (۲۰ آیت سورة الانعام

سيف لودين کتابتون

مګر ددوئ په طبيعت کې سلامتيانه وه له حق سره يې کين اوعنادوو انکار اوتکبير دهغوئ په ختهه اخښل سوی وو لکه چې الله تعالی فرمايې(وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ١٤ آيت سورة النمل) رسول الله ﷺ چې په مکه مکرمه کې وو په هغه وخت کې به هم يهودو قريش دنبی کريم ﷺ په مقابل کې راپورته کول اوقريشوته به يې ويل چې له دې رسول ﷺ څخه داصحاب کهف اوذوالقرنين اوروح په اړه پوښتنې وکوی دااوداسی نورډيری ستونزی يې ورته جوړولی کله چې رسول الله ﷺ هجرت وکی مدينی منوری ته راغلی نودحسد اوکين اوريې نور هم تازه سو اودوئ په دې پوه سو چې نوررزموږ علمي امتيازاولوړوالی پای ته ورسيدی اودې کينه ګرو دخپل نفس تابعداری وکه اودوئ دحق په دښمنی کې حريص وودوئ دخپلومشرانوخبره ومنله (وَبَآؤُوا بِغَضَبٍ مِّنَ اللهِ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ٦١ آيت سورة البقرة) اوداصحاب سبت طريقه يې غوره کړه .

په يهودوکې چې رښتينی علماء اوښه خلک وو له کين اوحسده پاک وو هغوئ نبی کريم ﷺ وپيژندی سمدستی يې اسلام ومنی اونورويهودو ته يې هم بلنه ورکه مګر ډيرويهودو دضداودښمنۍ لاره ونيوه اوکين اوعناد يې ددوئ دپاره دلاری خنډ وګرزيدی له دې امله رسول الله ﷺ ددوئ دکين اوعناد اوفتنه اچولواوفساد خورلو دپاره له هغوئ سره يو پريکړه ليک وليکي ددې دپاره چې دهغوئ په مخالفت اوعنادکې زيادت رانه سی اومسلمانان ددوئ له شر اوفساده خوندی پاته سی .

قرآن کريم ديهودو دشرارت اوفتنودومره بيان کړی دی چې سړی به ورته ګوته په غاښ سی په دې وجه رسول الله ﷺ له دوئ سره يوه معاهده لاسليک کړه ددی دپاره چې دهغوئ په فتنواوفساداوسخت دښمنی کې نورزيادت او اوږدوالی رانه سی لکه څنګه چې ترهجرت پنځه مياشتی وروسته (١) دمدينی منوری له يهودوسره يوپريکړه لاسليک سواودوئ پرخپل دين اوخپلومالواوملکيتوباندی پاته سو په لاندی شروطنوباندی له هغوئ سره يولوظنامه وليکل سوه تفصيلی مادی په سيرة ابن هشام کې دی مګر دهغه پريکړی خلاصه به موږ په لاندې مادوکې په راتلونکي پاڼه کې بيان کړو

---

(١) دپريکړی اصلی مادی په سيرة ابن هشام کې جلد١ ، صفحه ١٧٨و البدايه والنهايه جلد ٣، صفحه ٢٢٤کې ذکرسوی دی مګر په دې دواړوکې دتاريخ يادونه نه دی سوی ترهجرت پنځه مياشتی وروسته دپريکړی کيدل دتاريخ الخميس جلد١ صفحه ٣٩څخه رااخيستل سوی دی)

يادداشت : درنولوستونکودکتاب ليکونکي اوژباړونکي په ډيردرناوی له تاسودرنولوستونکوهيله لری چې ماعاجزبنده هم يوځل په دعاکې يادکړی الله عزوجل دې ښه بدله درکړی آمين ، حمد الله ، کال ١٤٣٥هجری سپوږميز مطابق کال ٢٠١٤ميلادی)

سیف لودین کتابتون

بسم الله الرحمن الرحيم !

داپريکړه د محمد نبی امی ﷺ له خوا څخه کیږی اودا پریکړه دقریشو مسلمانو او دیثرب مسلمانو اویهودو ترمینځ ده په یهودو کې چې څوک د مسلمانانو تابع وی او دهغوئ سره یوځای کیدل غواړی هره ډله به پرخپل دین له پاته کیدو سره دلاندی امورو تابع او پابندوی

(۱) دقصاص اووینه تویولو چې کومه طریقه له پخوا څخه وه هغه به په عدل او انصاف سره پرخپل حال پاته وی

(۲) دویم پرهره ډله به په عدل او انصاف سره دخپل غړی فدیه ورکول لازم وی یعنی دکومی قبیلی چې بندی یابل مجرم وی دهغه دخلاصون دپاره فدیه دهغې قبیلی پر ذمه دی

(۳) دظلم اوتیری اوزیادت او فساد په مقابل کې به ټول یو کیږو په دې اړه به دهیچا مراعت نه کیږی که څه هم دچا زوی یابل قریب وی ..

(۴) هیڅ مسلمان ته به دکافر په مقابله کې دمسلمان دوژلو اجازه نه وی اونه به کافر ته دمسلمان په مقابل کې کومک او مرسته ورکول کیږی .

(۵) دیو ادنی مسلمان پناه ورکول به داسی حق وی لکه څنګه چې دلویې مرتبی دمسلمان وی

(۶) کوم یهود چې دمسلمانانو په امر منلو کې اوسیږی دهغوئ ساتنه به دمسلمانانو پر ذمه وی پرهغوئ به هیڅ ظلم نه کیږی اونه به دهغوئ په مقابله کې دهغوئ له دښمنانو سره مرسته کیږی

(۷) هیڅ کافر او مشرک ته به داحق نه وی چې دمسلمانانو په مقابله کې دې وقریشو ته په مال اوځان سره پناه ورکړی یادې دقریشو او مسلمانانو ترمینځ ولویږی

(۸) دجنګ په وخت کې به یهود په مال اوځان سره دمسلمانانو مرسته کوی او دمسلمانانو په خلاف به دمرستی اجازه نه وی

(۹) دنبی کریم ﷺ که کوم دښمن په مدینه باندی حمله وکوی نو په یهودو باندی به دمحمد ﷺ مرسته لازمی وی

(۱۰) کومی قبیلی چې په دې پریکړه اوژمنه کې برخه لری که له دوئ څخه کومه قبیله له دې پریکړی اوژمنی څخه وتل غواړی نو دنبی کریم ﷺ له اجازی پرته نه وتلای اونه بیلیدای سی .

(۱۱) دفتنه پورته کونکی مرسته یاهغه ته دځای ورکولو اجازه به نه وی او کوم سړی چې دیو بدعتی مرسته کوی یاهغه ته ځای ورکوی نو پرهغه باندی دالله لعنت او غضب دې ترقیامته پوری دهغه هیڅ عمل نه قبلیږی .

(۱۲) مسلمانان که له چاسره سوله غواړی نو دیهود به هم په دې سوله کې خامخا برخه لری .

(۱۳) څوک چې یو مسلمان ووژنی او شاهد موجود سی نوله هغه به قصاص اخیستل کیږی مګر که وارثان دمړی پردیت باندی راضی سو نوبیا قصاص نسته

(۱۴) کله چې جګړه پیښه سی یاپه خپل مینځ کې اختلاف راسی نو الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ته به رجوع کیږی (البدایه والنهایه جلد ۳، صفحه ۲۲۴)

سیف لودین کتابتون

له کوموقبیلوسره (١) چی رسول الله ﷺ داپریکړه وکړه په هغې کې دیهودو درې غټې قبیلې شاملې وی هغه چی په مدینه اوشاوخوادمدینی کې اوسیدل ،(١) بنی قنقاع (٢) بنی نضیر (٣) دریم بنی قریظه ،دې قبیلودرسول الله ﷺ دامرله منلوانکاروکړ په دې وجه رسول الله ﷺ له دوئ سره داپریکړه ولیکله ددې دپاره چی فتنه اوفساد خورنه سی اویوه نوی اسلامی ټولنه جوړه سی مګر درې واړه قبیلویې تربلې وروسته عهدمات کی اوداسلام په دښمنی اوداسلام په خلاف سازشوکې یې پوره برخه واخیسته اوډیر زیات یې خپلو کړوړو سزایې هم وڅکله لکه چی په راتلونکوغزاګانوکې به دابیان راسی ..

ابوعبیدپه کتاب الاموال کې فرمایې چی داپریکړه لیک دجزیه دحکم ترنازلیدومخکې ولیکل سو اواسلام په هغه وخت کې ضعیف وو اوپه پیل کې داحکم وو چی که یهود دمسلمانانوسره په غزاکې شریک سی نودغنیمت له مال به دوئ ته هم برخه ورکول کیږی له دې کبله په پریکړه کې پریهودوباندی داشرط ولګول سو چی په جنګی مصارفوکې به هغوئ ته هم برخه ورکول کیږی

پاملرنه : دیوی غلط فهمي لیری کیدل !

ددې پریکړی له عبارته په ډاګه ښکاره سوچی داپریکړه دمسلمانانو اویهودو ترمینځ په دې شرط وسوه چی مسلمانان به آمران وی اویهود به دمسلمانانوتابع وی اونبی کریم ﷺ به ددواړو ډلو حاکم وی اوکله چی څه اختلاف پیښ سی نورسول الله ﷺ ته به رجوع کیږی اوکومه فیصله چی رسول کریم ﷺ وکوی په هغې به عمل لازمی کیږی داپریکړه داسی ده لکه دمسلمانانو اوذمیانو ترمینځ چی کیږی : مګر هوبهو هغسی نه دی ځکه ترهجرت وروسته داسلام دقدرت اواسلامی ریاست شروع وه دحدیبیه ترسوله اودمکی ترفتح وروسته داسلامي حکومت دوره شروع کیږی یوشمیرې دنن وخت مسلمانان کوم چی دکانګریس سره په یوځای والی خبره کوی ددې یوځای والی دپاره چی کله هغوئ ته په قرآن اوسنت کې څه دلیل پیدانه سو نوپه دې پریکړه اومعاهده دلیل نیسی اوداډیره لویه غلطی دی ځکه ددې پریکړی ټولی مادې له سره ترپایه ددې خبری شاهدی ورکوی چی اسلام به غالب وی اوکافران به دمسلمانانودحکم تابع وی لکه چی په سیرکبیراوداسی نوروکې داشرط ښکاره یادسوی دی ، دکافر اومسلمان داتحاد دساتونکو دایونوی ایجاد اویوی نوی دین دی ددې ډیموکراسی دین په اسمانی دین کې هیڅ بنیاد نسته ډیموکراسی سراسر ګمراهی اوبیلاری ده ::

(١) ذکرابن اسحق ان النبی ﷺ وادع الیهودلماقدم المدینة وامتنعوا من اتباعه فکتب بینهم وکانو ثلاث قبائل قینقاع والنضیر واستاصل بنی قریظة فنقض الثلاثة العهد طائفة بعدطائفة فمن علی بنی قنقاع اجلی بنی النضیر واستاصل بنی قریظة وسیأتی بیان ذلک کله مفصلا ان شاء الله تعالی (فتح الباری جلد ٧، صفحه ٣١۴)

سیف لودین کتابتون

د لومړی هجری کال بیلابیلې پیښې

(۱) مدینې منورې ته له رسید وروسته کلثوم بن هدم د قباء په هغه کور کې چې رسول الله ﷺ اوسیدی مړ سو (۱)

(۲) د مسجد نبوی له ودانولو څخه رسول الله ﷺ لا تر اوسه نه وو فارغ سوی چې اسعد بن زراره ﷛ د بنی النجار قبیلې مشراو نقیب و مړ، بنی النجار د نبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو چې ته د اسعد پرځای بل څوک مشر راته وټاکې نبی کریم ﷺ وفرمایل : تاسو زما ماخیل یاست زه ستاسو څخه یم اوزه ستاسو نقیب یم نبی کریم ﷺ د بنی النجار مشری منل د بنی النجار له مناقبو څخه دی او دوئ په دې خبره فخر کوي (۲)

(۳) په همدې کال د مکې د مشرکینو دوه سرداران مړه سو ، ولید بن مغیره ، او عاص بن وائل ، یعنې د عمرو بن العاص ﷛ د مصر د فاتح پلار مړ سو (۳)

او په همدې کال مدینې ته له رسید و څخه اته میاشتې وروسته د کوچنی اختر په میاشت کې نبی کریم ﷺ عائشه صدیقه ﵂ واده کړه چې تر هجرت مخکې د خدیجة الکبری ﵂ تر مړینې وروسته رسول الله ﷺ عقد ور سره کړی وو د عقد په وخت کې د عائشه صدیقه ﵂ عمر ۶ یا اووه ۷ کاله وو او د واده په وخت کې د ۹ کالو وه یو شمیر خلک وایې چې تر هجرت اتلس میاشتې وروسته په کال ۲ هجری کې د عائشه صدیقه ﵂ سره خلوت وکړ (۴)

تر هجرت وروسته چې کله صحابه ﵃ مدینې منورې ته راغلو نو د مدینې ټول څاګان ترخه وو یوازې یو د بیررُومه څاه اوبه خوږې وې او د هغه څاه مالک یهودی وو او هغه به له قیمته پرته اوبه نه ورکولې بیو زله مسلمانانو ته ډېرې ستونزې پیښې سوې، وروسته عثمان غنی ﵁ بیررُومه څاه رانیوله او پر رسول الله ﷺ یې د جنت دیوې چینې په بدل کې خرخ کړه او د مسلمانانو لپاره یې وقف کړه چې د هر چا زړه غواړی له دې څخه دې اوبه وړی او دې حدیث ته امام ترمذی حسن ویلی دی دا حدیث ډېر مشهور دی د ترمذی څخه پرته نورو امامانو هم د دې تخریج کړی دی د تفصیل د پاره کنز العمال ته رجوع وکوی (۵)

د عثمان غنی ﵁ دا پیښه امام بخاری په لنډ ډول یاده کړې ده په کتاب المساقات او کتاب الوقف کې.

---

(۱) روض الانف جلد ۲، صفحه ۱۷)
(۲) تاریخ طبری جلد ۲، صفحه ۲۵۷
(۳) تاریخ طبری جلد ۲، صفحه ۲۵۷)
(۴) تاریخ طبری جلد ۲، ۳۵۷)
(۵) تاریخ طبری جلد ۶، صفحه ۳۷۲)

سیف لودین کتابتون

دصرمة بن ابي انس رضي الله عنهٔ اسلام راوړل !

صرمة بن ابی انس انصاری نجاری رضی الله عنه له لویه سره اسلام ته په زړه کې ځای ورکړی وو او د کفر او شرک څخه بیزاره او منتفرو وتر اسلام مخکې په عیسوی دین کې د داخلیدو اراده هم وکړه مګر د نصاراوو د مشرکانه عقیدو په وجه یې بیرته اراده ماته کړه .

نوموړی ډیر عابد او له دنیا سره یې هیڅ مینه نه لرله په دې نړۍ کې د مسافر په شیر ژوند تیروی تل به یې پنډی جامی اغوندلی د عبادت لپاره یې ځانګړی کوټه جوړه کړی وه او هغې ته د حائضی او جنب د داخلیدو اجازه نه ورکوله او نوموړی به داویل (اعبدرب ابراهیم) زه د ابراهیم علیه السلام د رب عبادت کوم دخپل وخت ډیر لوی شاعر و و شعرونه به یې ټول له وعظ او لارښوونو ډک وو (۱)

کله چې نبی کریم ﷺ هجرت وکی مدینی منوری ته راغلی نو صرمة بن ابی انس رضی الله عنه ډیر سپین ږیری سوی وو دئ د نبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او په اسلام مشرف سو او دا شعرونه یې وویل

ثری فی قریش عشرة حجة ::::::::: یذکر لو یلقی صدیقا مواتیا

رسول الله ﷺ په مکه کې ترلسو کالو ډیر پاته سو خلکو ته به یې نصیحت کوی او دهغه داهیله وه چې څوک دوست او مرسته کونکی به پیدا سی

ویعرض فی اهل المواسم نفسه ::::::::::: فلم یر من یؤوی ولم یر داعیا

او د حج په وخت کې به یې خپل ځان وړاندی کوی چې ما ور سره بوزی او ځای راکړی مګر هیڅ ځای ورکونکی او بلونکی پیدا نه سو

فلما اتانا اظهر الله دینه ::::::::::::: فاصبح مسرورا بطیبة راضیا

کله چې هغه موږ ته راغلی نو الله عزوجل د هغه دین ته قوت ورکړ او د مدینی څخه خوشاله او راضی سو

والقی صدیقا و اطمأنت به النوی :::::::::: وکان له عونا من الله بادیا

کله چې دلته راغلی نو دوستان یې هم پیدا سو ، او دوطن د بیلوالی له غمه هم ډاډه سو او هغه دوستان د الله جل جلاله له لوری دهغه دپاره پوره مرسته او کومک کونکی سو .

یقص لنا ما قال نوح لقومه ::::::::::::: وما قال موسی اذا جاب المنادیا

رسول کریم ﷺ موږ ته هغه خبری بیانوی چې نوح علیه السلام او موسی علیه السلام خپلو خلکو ته بیان کړی دی

فاصبح لا یخشی من الناس احدا ::::::::::: قریبا ولا یخشی من الناس نائیا

او دلته داسی په ډاډ سو چې له هیچا ویره پاته نه سوه نه دخپلو انو څخه او نه له پردو څخه

بذلنا له الاموال من جل مالنا :::::::::: وانفسنا عند الوغی والتآسیا

موږ ټول مالونه دهغه دپاره ځار کړل او دجګړی په وخت کې مو خپل ځانو د هغه دپاره قربان کړه

ونعلم ان الله لا شئ غیره ::::::::::::: ونعلم ان الله افضل هادیا

موږ په دې یقین لرو چې د الله جل جلاله پر ته ربښتیا هم هیڅ شئ موجود نه دی او دا هم پیژنو چې الله جل جلاله تر ټولو ښه لارښود ونکی او توفیق ورکونکی دی

نعادی الذی عادی من الناس کلهم :::::::::: جمیعا وان کان الحبیب مصافیا

موږ د هر هغه چا دښمنان یو چې دهغه دښمن وی که څه هم هغه زموږ هر څومره مخلص دوست او ملګری وی

(۱) علامه ابن هشام په خپل سیرة کې دوې قصیدی بیان کړی علماء دی سیرة ابن هشام جلد ۱، صفحه ۱۸۲ ته رجوع وکوی)

سيف لودين كتابتون

په دويم هجري کال کې دقبلې بدلون :

کله چې رسول الله ﷺ په مکه کې اوسيدی نو هغه وخت يې بيت المقدس خواته لمونځ کوی مګر په داسې طريقه چې بيت الله شريف به يې هم مخ ته راغله خو کله چې مدينې منورې ته راغلی نو دا صورت نه سو کيدای چې ودواړو قبلو ته مخ کړي ځکه يې دالله ﷻ په حکم شپاړس يا اولس مياشتې يې بيت المقدس ته لمونځ وکړ، مخکې تردې چې دقبله دبدلون حکم نازل سی درسو ل الله ﷺ په زړه کې دکعبة الله ولورې ته دلمونځ کولو مينه واچول سوه نو ځکه به رسول الله ﷺ هرځل داسمان خواته پورته کتل چې کله به کعبة شريفې ته دلمونځ کولو حکم نازليږي خو يو نيم کال وروسته په کال ۲ هجري کې دا حکم نازل سو { قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ (۱۴۴ آيت سورة البقرة} ته خپل مخ مسجد حرام ته وګرزوه الله تعالی ددويمې پارې په سرکې دقبلې داړولو حکم اوددې اسرار او حکمتونه ذکر کړي دي لوستونکي حضرات دې دتفسير کتابو ته رجوع وکوي

صُفّه او اصحاب صُفّه :

دقبلې له بدليدو وروسته چې کله دمسجد نبوي مخ بيت الله ته سو نو دمخکې قبلې طرف چې کوم ديوال او په هغه پورې ځای وو هغه دهغه فقيرانو او غريبانو داوسيدو دپاره پر خپل حال پريښودل سو ځکه ددوئ هيڅ داوسيدو ځای او کورنه وو دا ځای دصفه په نامه مشهور سو صفه په اصل کې برنډې اودسايه ځای ته وايې دغه ضعيف مسلمانان اوشکر کښونکي فقيران هغه چې په خپل فقرباندې يوائې صبرکونکي نه بلکې ترشتمنو او مړو ډير شکر کښونکي او خوشاله وو

کله چې دپاکو احاديثو داوريدو او دنبی کريم ﷺ دخبرو داوريدو په نيت په دربار نبوت اورسالت کې حاضريدل نو دلته به پاته کيدل خلکو به داکسان داصحاب صفه په نامه سره يادول ګواکې دا دهغه دبشير اونذير نبی ﷺ فقير (۱) خانقاه وه چې په زړها وو ځله ډيرې فقرته ددنيا پر پاچهی باندې په ډيره مينه او خوشالی غوراوی ورکړی وو او اصحاب صفه دتوکل خاوندان اودتبتّل داصحابو يو ټولئ وو چې شپه اوورځ به دنفس دپاکولو اود کتاب او حکمت دزدکولو دپاره درسو ل کريم ﷺ په خذمت کې حاضريدل ،ددوئ هدف نه تجارت اونه کښت او کرونده وه دوئ خپلې سترګې دنبی کريم ﷺ دليدو دپاره او غوږونه دهغه دپاکو خبرو داوريدو دپاره اوبدن يې دهغه مبارک دملګری دپاره وقف کړي وو

(۱) حافظ ابن تيميه قدس سره په الجواب الصحيح کې په يو ځای باندې دنبی کريم ﷺ په مخکنيو انبياء باندې افضليت بيانولو کې ويلې دي چې زموږ نبی ﷺ ترسليمان ﷺ په دې وجه افضل دی چې سليمان ﷺ نبی پاچا وو اورسول الله ﷺ نبی فقير وو کما قال موسی ﷺ رب انی لما انزلت الی من خير فقير ، ۱۲)

سیف لودین کتابتون

له ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې ما اوویا ۷۰ اصحاب صفه ولیدل چې له دوئ یوه سره پټوهم نه وو یوائې لنګ به یې وهلی وو یابه یې یوه کمبله یاشړی پربدن وه اوهغه شړی به هم دومره کوچنی وه چې نیمایې پنډیوته به رسیدله اودچادابه پنډیوته هم نه رسیدله اوپه لاس به یې هغه نیولی وه چې هسې نه بې پردې سي. (بخاری شریف جلد۱، صفحه ۶۳ باب نوم الرجال فی المسجد)

واثله بن اسقع ﷺ فرمایې: چې زه هم په اصحاب صفه کې وم په موږ کې دهیچاسره هم پوره جامه نه وه دخولوپه وجه به زموږ پربدن باندې خیرې جمع کیدل (حلیة الاولیاء جلد۱، صفحه ۳۴۱) دوئ دالله ﷻ په دربارکې ترزرهاووپاکو ډیر خوښ اومحبوب وو داحضرات اَشْعَثْ اواَغْبَرْ) هغه بېر سرې اوخړپړوودوئ که په الله عزّوجلّ دیو کار قسم خوړلی وی نوالله ﷻ ددوئ قسم پوره کوی

مجاهدفرمایې: چې ابوهریرة ﷺ به ویل چې قسم په هغه ذات چې له هغه پرته هیڅ دعبا دت لائق نسته چې مابه ډیرځله دلوږې له وجې خپله خیټه په ځمکه وموښله ددې دپاره چې دځمکې په لوندوالی اویخوالی سره دلوږې په ګرمی کې څه کمبود راسی اوډیرځله به مې په نس پورې ډبرې تړلی وی ددې دپاره چې سیده ودریدلای سم یوه ورځ دلارې په سرکې کښیناستم په دې وخت کې ابوبکرصدیق ﷺ راغلی ماله هغه څخه دیوآیت پوښتنه وکړه زماهدف داوو چې زماشکل به ووینی اودخوراک لپاره به مې له ځان سره بوزی مګر ابوبکرصدیق ﷺ ولاړی اوزماپه مقصدپوه نه سو ترده وروسته بیا عمر فاروق ﷺ تیرسو له هغه مې هم یوه پوښتنه وکړه مګرهغه هم تیرسو،

لږ وروسته ابوالقاسم رسول اکرم ﷺ هغه ځوک چې الله ﷻ دخیرات اوبرکاتوویشونکي رالیږلی دی زماوخواته تیریدی اوزه یې ولیدلم وې پیژندم اومسکی سو او وې فرمایل یااباهر (یعنی اې ابوهریره ﷺ) ماوویل یارسول الله ﷺ حاضریم نبی کریم ﷺ وفرمایل زماسره راځه، زه هم له هغه سره روان سوم کله چې دنبی کریم ﷺ کورته ورسیدو وې لیدل چې یوه پیاله دشیدو پرته ده پوښتنه یې وکړه چې داشیدې له کومه ځایه راغلی دوئ ورته وویل فلانی سړی داشیدې تاته هدیه رالیږلی دی نبی کریم ﷺ وفرمایل اې ابوهریره ﷺ اصحاب صفه را وغواړه ؟ ابوهریره ﷺ فرمایې چې اصحاب صفه داسلام میلمانه وو نه ددوئ کوروو اونه له دوئ سره څه مال وو لنډه داچې ددوئ هیڅ ځای داوسیدو نه وو رسول الله ﷺ ته به چې کله دکوم ځای څخه زکوة راغلی نواصحاب صفه ته به یې ولیږی اوپه خپله یې دهغه څخه هیڅ هم نه اخیستل ځکه صدقه پرهغه حرامه وه اوکه هدیه به راغله نوپه خپله به یې هم له هغې څخه څه اخیستل او اصحاب صفه ته به یې هم په هغه کې برخه ورکوله په دې وخت کې دهغه داحکم کول چې اصحاب صفه را

سیف لودین کتابتون

وغواړه زما پر نفس څه ګران سو ما په خپل زړه کې وویل چې دا یوه پیاله شیدې د اصحاب صفه دپاره نه بس کیږی ددې شیدوڅو ترټولو ډیرزه حق داره یم چې څه وڅیښم ځکه له لوږی دباندی راوتلی وو بل دا چې د اصحاب صفه تر راتلو وروسته به ماته د دې دویشلو حکم کوی اوله ویشلو وروسته دا امید نسته چې زما دپاره دی له دې څه پاته سی مګر دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ دخبرې له منلو هیڅ چاره نه وه زه ولاړم خپل ملګری مې راوغوښتل کله چې ما اصحاب صفه راوستل دنبی کریم ﷺ په امر می هریوه یوه ته شیدې ورکړی نودوئ ټول ماړه سو نبی کریم ﷺ زماوخواته وکتل او په شونډ انوکې یې وخندل وې فرمایل چې یوائې زه اوته پاته یو ماوویل هو نبی کریم ﷺ وفرمایل کښینه وې څیښه ماهم سمدستی پیل په وکړ اوهغه مبارک ﷺ همداسې راته فرمایل نوری وڅیښه نوری وڅیښه ترڅو چې ماغوښتنه وکړه چې قسم په هغه ذات چې ته یې په حق سره رالیږلی یې زه نور دڅیښلو هیڅ توان نه لرم هغه مبارک ﷺ پیاله زماله لاسه واخیسته او دالله ﷻ حمد یې وو ایو اوبسم الله یې وویله کومی شیدی چې پاته وی هغه یې وڅیښلې (بخاری شریف کتاب الرقاق باب کیف کان عیش النبی صلی الله علیه وسلم واصحابه وتخلیهم من الدنیا)

عبدالرحمن (۱) بن ابی بکر صدیق ؓ فرمایې: چې اصحاب صفه فقیران وو رسول الله ﷺ به دوئ په صحابه ؓ باندی ویشل فرمایل به یې چې له چاسره ددوو کسانو خوراک وی هغه دې له ځان سره یو سړی او دچاسره چې ددرې کسانو خوراک وی هغه دې څلورم بوزی نورهم په دې شمیر (بخاری شریف)

محمدبن سیرین فرمایې چې کله به ماښام سو نورسول الله ﷺ به اصحاب صفه ؓ په صحابه ؓ باند ی ویشل چا به دوه چا به درې اوسعد بن عباده ؓ اتیا اتیا کسان له ځان سره بیول اودوئ ته به یې خوراک ورکوی ، ابوهریره ؓ فرمایې : چې زه هم په اهل صفه کې وم کله چې به ماښام سو نوموږ به ټول درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضریدو هغه به یو یو دوه دوه کسان شتمنو صحابه وو ؓ ته سپارل اوڅوک چې به پاته سو هغه به یې له ځان سره بیول ترخوراک وروسته به موږ دشپې په مسجد کې ویدیدلو (فتح الباری باب کیف کان عیش النبی صلی الله علیه وسلم واصحابه وتخلیهم من الدنیا)

دمسجد نبوی په دووستنو کې به یوه رسۍ جاروه چې په هغې باندی به انصارو ؓ دخپلو باغو څخه دخورما وابنګی راوړل اود اصحاب صفه دپاره به یې پردې رسۍ اچول اصحاب صفه به هغه له لرګی اخیستل اوخوړل به یې معاذبن جبل ؓ دهغه منتظم وو (وفاء الوفاء جلد ۱، صفحه ۳۲۴)

---

(۱) دعبدالرحمن بن ابی بکر ؓ داحدیث امام بخاری دصحیح بخاری په ډیرو ځایو کې راوړی دی مثلاً باب السمر مع الابل والضیف جلد ۱، صفحه ۸۴،،، اوباب علامات النبوة فی الاسلام جلد ۱، صفحه ۵۰۶)

سیف لودین کتابتون

عوف بن مالک اشجعی ؓ فرمايي : چې يوه ورځ رسول الله ﷺ راغلی اوپه لاس مبارک يې لکړه وه ده يوخراب وانبکی وليدی چې پردې رسی ځړيدلی وو نبی کريم ﷺ هغه خراب وانبکی ته لکړه وروړه اووې وفرمايل که دې خيرات کونکی غوښتلای نوترديښه وانبکی يې خيرات کولای سو .

داحديث (۱) نسائی روايت کړی دی ددې سندقوی دی په يوبل حديث کې راځي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې هرباغ لرونکي دی يويو وانبکی دخورما راوړی اوديبوزلو لپاره دې په مسجدکې وځړوی (فتح الباری جلد ۱، صفحه ۴۳۱باب القسمة وتعليق النقو فی المسجد)

اودجابر بن عبدالله ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل(فی کل عشرة اقناء قنو يوضع فی المسجد للمساکين (طحاوی جلد۲، صفحه ۳۱۳) په هرولسو وانبکوکې به يووانبکی دمسکينانو دپاره په مسجدکې ايږدی ددې حديث سندقوی دی اوټول راويان يې ثقه دی

مسئله :

دوړو اوترږو خلکودپاره په مسجدکې اوبه اودخوراک شيان ايښودل ډيرغوره اوښه کاردی عبدالله بن شقيق وايي چې زه يوکال دابوهريره ؓ سره وم يوه ورځ يې وفرمايل آرمان چې تازموږ هغه وخت ليدلی وای چې کله به ډيری ورځی پرموږداسی تيری دی چې زموږبه دومره خوراک هم نه وو چې په هغه موږپرملاسيده ودريږو تردې اندازی چې له ډيری مجبوری به موپه نس پوری ډبری تړلی ددې دپاره چې پرملاسيده ودريږو (اخرجه احمد فتح الباری جل ۱۱صفحه ۲۴۳)

له فضاله بن عبيد ؓ څخه روايت دی چې ډيرځله به اصحاب صفه دډيری لوږی له لاسه په لمانځه کې بيهوښه سو له بهرڅخه به چې څوک کوچيان يانورڅوک راغلی وو دهغوبه داخيال سو چې داليونيان دی : خورسول الله ﷺ به هغوئ ته راتلی اوپه دې الفاظوبه يې تسلی ورکوله :

[لوتعلمون مالکم عندالله لاحببتم ان تزدادو فقرا وحاجة (وفاء الوفاء جلد۱، صفحه ۳۲۳واخرجه ابونعيم فی الحلية مختصرا جلد۱، صفحه ۳۳۹)

که تاسوپه دې خبروای چې دالله ﷻ له طرفه ستاسودپاره څه تيارد ی نوخامخابه تاسوداهيله درلوده چې کاشکی زموږدافقرا واړتيا نوره هم ډيره سوی وای .

---

(۱) حافظ عسقلانی فرمايي ددې سندکه څه هم قوی دی مګردبخاری پرشرط باندی نه دی په دې وجه امام بخاری ددې تخريج نه دی کړی مګر ترجمة الباب بالقسمة وتعليق النقوفی المسجد کې يې دی حديث ته اشاره کړی ده لکه چې دامام همام رحمة الله عليه داعادت دی ،، ۱۲)

سیف لودین کتابتون

داصحاب صُفّه رضی الله عنهم غوره صفات او ښه خویونه :

عیاض بن غنم رضی الله عنه وایي : چې ماله رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې زمادامت غوره اوښه اودلوړې مرتبې څښتنان هغه دي چې ددوئ په اړه ماته ملأ اعلی ته نژدې ملائکه وو خبرراکړې دي چې دوئ په ښکاره دالله ﷻ دفراخ رحمت په فکر سره خاندي خو په زړه کې دالله ﷻ دعذاب اوسختوالی له ډیرې ژاړې سهار اوماښام دالله ﷻ پاکې بیانوی اوپه پاکوکورو یعني مسجدوکې دالله ﷻ ذکرکوی په ژبه الله ﷻ په مینه اوویره رابولي اوپه زړوکې دهغه دملاقات مینه لرې پرخلکوباندې ددوئ بار ډیر نرم اوپه خپله ددوئ پرنفسوباندې هغه ډیر دروند اوګران دی پرځمکه باندې په ډیره نرمۍ اوارام سره ځي کاږه واږه نه ځي دمږیانو په څیرتګ کوی ددوئ په تګ کې عاجزی اومسکنت ښکاریږی دقرآن تلاوت کوی پخوانۍ اوزړې جامې اغوندی هروخت دالله ﷻ په رحمت کې اوسیږی دالله ﷻ رحمت ددوئ ساتنه کوی ددوئ ارواح په دې نړۍ کې دی خوزړونه یې په آخرت کې دی دآخرت څخه پرته دوئ دهیڅ شئ په فکرکې نه دی هروخت دآخرت او قبرپه تیاری بوخت وی له دې وروسته داآیت نازل سو :(ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ(۱۴آیت سورة ابراهیم) داوعده دهغه چالپاره دی چې وماته له مخامخ دریدوبیریږی اوزماپه خبرداری بیریږی (حلیة الاولیاء جلد ۱، صفحه ۱۶)

داصحاب صفه رضی الله عنهم نومونه :

داصحاب صفه رضی الله عنهم شمیربه کله لږ اوکله ډیرسو عارف سهروردی په عوارف کې لیکلی دی چې داصحاب صفه رضی الله عنهم شمیرڅلورسوه ته هم رسیدلی دی ابوعبدالرحمن سلمی اوابن اعرابی اوحاکم ددوئ دنومو اوحالاتودیوځای کولوکوښښ کړی دی حافظ ابونعیم په حلیة الاولیاء کې ټول رایوځای کړی دی اودپرهیزګارانوصحابه کرام رضی الله عنهم اواصحاب صفه تفصیلی یادونه یې کړی ده(فتح الباری جلد ۱۱، صفحه ۲۴۵ باب کیف کان عیش النبی صلی الله علیه وسلم واصحابه وتخلیهم عن الدنیا)

دیوشمیراصحاب صفه رضی الله عنهم دنومونه په لاندې ډول دی :

ابوعبیده عامربن الجراح رضی الله عنه (۲) عماربن یاسر ابوالیقظان رضی الله عنه (۳) عبدالله بن مسعود رضی الله عنه (۴) مقدادبن عمرو رضی الله عنه (۵) خباب بن ارت رضی الله عنه (۶) بلال بن رباح رضی الله عنه (۷) صهیب بن سنان رضی الله عنه (۸) زیدبن الخطاب رضی الله عنه (۹) ابومرثد کناز بن حصین عدوی رضی الله عنه (۱۰) ابوکبشه دنبی کریم ﷺ مریئ (۱۱) صفوان بن بیضاء رضی الله عنه (۱۲) ابوعبس بن جبر رضی الله عنه (۱۳) سالم رضی الله عنه دابوحذیفه مریئ (۱۴) مسطح بن اثاثه رضی الله عنه (۱۵) عکاشة بن محصن رضی الله عنه (۱۶) مسعود بن ربیع رضی الله عنه (۱۷) عمیربن عوف رضی الله عنه (۱۸) عویم بن ساعده رضی الله عنه (۱۹) ابولبابه رضی الله عنه (۲۰) سالم

سیف لودین کتابتون

بن عمیر رضی الله عنه (٢١) ابوبشر کعب بن عمرو رضی الله عنه (٢٢) خبیب بن سیاف رضی الله عنه (٢٣) عبدالله بن انیس رضی الله عنه (٢۴) جندب بن جناده ابوذرغفاری رضی الله عنه (٢۵) عتبه بن مسعود هذلی رضی الله عنه (٢۶) عبدالله بن عمر رضی الله عنه تر واده مخکې به له اصحاب صفه رضی الله عنه سره اوسیدی اوشپه به یې په مسجدکې تیروله ، (٢٧) سلمان فارسی رضی الله عنه (٢٨) حذیفه بن الیمان رضی الله عنه (٢٩) ابوالدرداء عویمربن عامر رضی الله عنه (٣٠) عبدالله بن زید جهنی رضی الله عنه (٣١) حجاج بن عمرو اسلمی رضی الله عنه (٣٢) ابوهریره دوسی رضی الله عنه (٣٣) ثوبان رضی الله عنه درسول الله ﷺ مریئ (٣۴) معاذ بن الحارث رضی الله عنه (٣۵) سائب بن خلّاد رضی الله عنه (٣۶) ثابت بن ودیعه رضی الله عنه ..

همدانومونه دحاکم په مستدرک جلد ٣ صفحه ١٨ کې یادسوی دی

رمضان المبارک : دروژې برکتمنده میاشت !

په همدې کال دشعبان میاشتې په آخری لسو ورځوکې درمضان روژه فرض سوه اودا آیت نازل سو :

(شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (سورة البقره آیت ١٨۵)

له ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها او عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چی کله رسول الله ﷺ مدینی منوری ته تشریف راوړی نودعاشوری روژې یعنی دمحرم ترلسم پوری دروژې نیولوحکم یې وکړ کله چی درمضان روژه فرض سوه نووې فرمایل اوس دعاشوری په روژه کې ستاسوخوښه دی نیسی یاست اوکه یې خوری (بخاری شریف)

له سلمه بن اکوع رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ دعاشوری په ورځ یوسړی ته دامر وکی چی خلکوته خبرورسوه چی دهرچاکه روژه وې هغه دی ونیسی اوچاکه خوړلی وی هغه دې هم ترماښامه دروژتی په ډیر خوراک نه کوی

(بخاری شریف باب اذا نوی بالنهار صوماً دتفصیل دپاره فتح الباری اوطحاوی ته رجوع وکوی

دکوچنی اخترلمونځ او زکوة الفطر (سرسایه) دهجرت دویم کال

دروژې دمیاشتې دوې ورځې پاته وې چی دسرسایه او اختر دلمانځه حکم نازل سو اودا آیت نازل سو (قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ (١۴) وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ (١۵) آیت سورة الاعلی)

رښتیاهم کامیابه سو هغه څوک چی له پټوبدو مرداریو څخه پاک سو اودالله عزوجل نوم یې یادکړ اوداختر لمونځ یې آداکړ.

عمربن عبدالعزیز اوابوالعالیه به ددې آیت تفسیر داسی کوی ، کامیاب سو هغه څوک چی دکوچنی اخترسرسایه یې آداء کړه اوداخترلمونځ یې وکی (احکام القرآن للجصاص جلد ٣ /ص/ ٣٧٣

سیف لودین کتابتون

دلوی اختر لمونځ اوقرباني دهجرت دويم کال : :

اوپه همدي کال باندی دلوی اختر دلمانځه اوقربانۍ حکم وسو اودا آيت نازل سو : [فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ] دالله ﷻ دپاره داخترلمونځ وکوه اوقرباني وکوه ،

حسن بصری رحمة الله عليه وايي چی په دې آيت کې صلاة الاضحی (دلوی اخترلمونځ اوقربانۍ مرادوه) احکام القران للجصاص جلد ۳،صفحه ۴۷۵)

دُرود شريف هم په دويم کال دهجرت :

ابوذر رضي الله عنه وايې چی پررسول الله ﷺ باندی ددرود اوسلام لوستلو حکم هم دهجرت په دويم کال نازل سو اويو شمير بيا وايې دمعراج په شپه دا حکم نازل سو (فتح البارى تفسيرسورة الاحزاب جلد ۸، صفحه ۲۱۱)

دنغدوروپو اوتجارت دمال زکوة کله فرض سو :

دعلماء په دې خبره کې اختلاف دی چی دمال زکوة په کال کې يوځل ورکول کله فرض سو ، جمهور وايې چی ترهجرت وروسته فرض سو اوبعض بيا وايې چی په اول هجری کال فرض سو اويو شميرنور بيا وايې چی دويم هجری کال دروژی ترفرض کيدو وروسته فرض سو په مسند احمد ، اوصحيح ابن خزيمة اونسائی اوابن ماجه کې له قيس بن سعد رضي الله عنه څخه په صحيح سند سره روايت سوی دی چی رسول الله ﷺ دمال دزکوة ورکولو دحکم ترنازليدو مخکې موږ ته دسرسايه دورکولو حکم وکړ

امام ابن خزيمه وايې چی دنغدوروپو زکوة ترهجرت مخکې فرض سو ځکه دحبشه د هجرت په قصه کې له ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی چی کله نجاشی پاچا له جعفر رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چی ستاسو نبی ﷺ تاسو ته دڅه شئ حکم کوی ؟ نو جعفر رضي الله عنه په ځواب کې ورته وفرمايل (انه يأمرنا بالصلاة والزكاة والصيام (فتح البارى جلد ۱، صفحه ۳۱۱)

زموږنبی ﷺ موږ ته امر کوی چی لمنځونه کوی اوزکوة ورکوی اوروژه نيسی

حافظ عراقی فرمايې : وفيه فرض الصوم والزكاة للفطر والعيدين بالصلاة

بخطبتين بعد والاضحيه :::: كذا زكوة مالهم والقبله

اوپه همدی دويم کال دهجرت درمضان روژه فرض سوه اودکوچنی اخترسرسايه اودلوی اخترلمونځ واجب سو اودا اخترلمانځه وروسته دوې خطبی وويل سوی اوقرباني او دمال زکوة هم په دې کال پيل سو اوپه همدې کال دقبلی دبدليدو حکم هم نازل سو

للمسجد الحرام والبناءُ ::::::: بعايس كذلك الزهراء

اوپه همدي کال عائشه صديقه رضي الله عنها واده سوه اوپه همدې کال دفاطمة الزهراء رضي الله عنها نکاح له علی رضي الله عنه سره وتړل سوه .... والله سبحانه وتعالی اعلم ......

سيف لودين كتابتون

دالله ﷻ په لاره کې له کافرانوسره جهادکول

د انبیاء علیهم السلام مبعوث کیدل دالله ﷻ داسې لوی نعمت دی چې که له هرویښته څخه ژبه جوړه سي نوهم دد ې لوی نعمت شکرنه سی اداکولای که دانبیاء علیهم السلام نه وای راليږل سوی نودالله ﷻ ذات اوصفات به موږ لاروركوته چا ښودل اودرښتيني بادارله خوشالی اوناراضی به موږ چاخبرولو اودهغه حق معبود دعبادت اوبندګی طريقه به چا راته ښودله دسمی لاری اوبیلاری دنیک بختی اوبدبختی فرق به چاراته ښودی دژوند اوآخرت اوددین اوددنیا دمسکنت اوفقیری اوامارت اوعدل لاری چاری به چاراته راښودلی . په مسجدکې پر مصلی باندی په ناسته سره حکومت څنګه کیدای سی دقیصراوکسری تخت څنګه چپه کیدای سی چې دمسجداما م هم وی اودهیوادآمیر هم وی دتزکی خاوندهم اودمسجدپه انګړکې دقیصر اوکسری خزانی په مسلمانانانو ویشی داکارپرته له انبیاء علیهم السلام څخه بل څوک کولای سی زموږناكاره عقلونه دنبوت له رڼا پرته بیخی بیکاره اومعطل دی سترګی هرڅومره ښې لیدونکي دی خوپه دې شرط چې دلمراوسپوږمی رڼاورسره ملګری وی کله چې هغه نه وی نوسترګی بیکاره دی دغه رنګه دعقل په رڼاسره اودبصیرت په رڼاسره دحق اوباطل توپیر هغه وخت کیدای سی چې کله دنبوت رڼا اودهدایت شمع دهغه لاربنوونکی سی اوعقل دنبوت له رڼا پرته بیکاره دی هیڅ کارنه سی کولای لکه څنګه چې په توره شپه کې دسترګورڼاکارنه کوی دغه رنګه دضلالت اوګمراهی په توره شپه کې دعقل رڼاهیڅ کار نه ورکوی .

عقل که څه هم دلیل دی مګر بشپړدلیل نه دی حجت بالغه نه دی حجت بالغه یوائې دانبیاء علیهم السلام بعثت دئ په کومه خبره چې دآخرت همیشنی عذاب اوثواب اوجزاء اوسزاءددې ټولو دار ومدارهمدابعثت دی . *خلق اطفالند جز مست خدا:::::::::: نیست بالغ جز رهیده از هوا*

ړونداوګوډ عقل دالله ﷻ وښائسته نمونو اولوړو صفاتواودهغه رضا یانه رضاته پرته دانبیاء علیهم السلام له ښوني اوروزني چیری رسیدای سی

لنډه داچې دانبیاء علیهم السلام بعثت عین رحمت اوعین نعمت دی چې پرهغه باندی ددنیا اوآخرت دنیک بختی اوکامیابی راڅرخی الله ﷻ دآدم علیه السلام نه داسلسله پیل کړه اویوپه بل پسی یې دبندګانودلاربنوونی لپاره پیغمبران علیهم السلام راولیږل ددې دپاره چې خلکوته دحقیقی بادار دبندګي بلنه ورکړی اودهغه دنه منلوڅخه یې وساتی منونکو اوغاړه ایښودونکوته دجنت زیری ورکړی اونه منونکواوسرغړونکوته دددوزخ له اوره خبرکي هغه چې نیک بخته اودښه نصیب څښتنان وو دوئ ددې لوی نعمت قدر وکړ اودالله ﷻ شکریې اداکړددنیالمن یې ونغاړله اودانبیاء علیهم السلام لمن یې ونیوله اودخپلوارادو اوغوښتنواوخوښیو اودنفس له غوښتنویې لاس پریمنځل اوخپل ولاړه اوناسته یې

سیف لودین کتابتون

دانبیاء علیهم السلام داشاری تابع کړه اوخپل ځانونه یې دوئ ته داسی وسپارل لکه مړی چې دژوندی په لاس کې وی ، اوڅوک چې ناپوه اوبدبخته ووهغوئ ددې لوی نعمت قدر ونه پیژندی اوشرعی احکام اودالله عزوجل په احکامو باندی عمل کول دوئ ته ګران سو اود حیوانانو اوځناورپه څیردبی مهاره اوښانوپه څیر اوسیدل یې دځان لپاره خوښ کی اودې شرافت اوکرامت ته یې ونه کتل چې الله ﷻ موږته دا امر کوی اوله دې مومنع کوی اوپه دې موږ عزتمند کیږو دوئ دنفس اماره اوشیطان لعین په جال کې ګیرسو دالله ﷻ دانبیاء علیهم السلام انکار اوتکذیب اودښمنی اومقابله باندی بوخت سو دالله اودالله ﷻ دغوره بندګانو پیروی یې شرم اوذلت وګڼی اودنفس اوشیطان پیروی یې عزت وګڼی انبیاء علیهم السلام به دوئ په ډیر نرمی سره الله ﷻ ته رابلل لکه څنګه چې مشفق اومهربان پلار دنالائق اولاد په اصلاح اوتربیه کې هیڅ وخت غفلت نه کوی دغه شان انبیاء علیهم السلام په خپل مخلصانه اوپه زړه پوری نصیحت سره دامت نالایق اوبدبخت وګړیو دپوهولو اوسمی لارې ته په راتلوکې هیڅ بی پروایې نه ده کړی تر ډیره وخته به یې په ډیره نرمی دوئ دالله ﷻ لوری ته رابلل مګر هغه بدنصیبه ورځ په ورځ نورهم دالله ﷻ څخه لیری تښتیدل لکه چې الله ﷻ فرمایې :

قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا (٥) فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِي إِلَّا فِرَارًا (٦) وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا (٧) سورة النوح)

نوح علیه السلام وویل اې الله ﷻ ماخپل قوم شپه اوورځ الله ﷻ ته راوبلل بیازماپه رابللو سره پرته دحق څخه په تښتید ونورد هیڅ شئ زیادت ونه سو اوماچې کله دوئ ته دحق بلنه ورکړه ددې دپاره چې ددوئ په ایمان راوړلو سره ته ددوئ ګناهونه وبخښی اودوئ دنفرت په وجه په غوږو کې ګوتی ونیوی اوپه جامو کې پټ سو اوپه خپله خبره باندی ټینګ ودریدل اودسرکښي هغه دپای درجی ته ورسیدل .

کله چې انبیاء علیهم السلام په نصحیت کولو ستړی سو اوپرهغوئ باندی هیڅ اثرونه سو بلکې دهغوئ سرکښی اوشرارت نور هم زیات سو اودالله عزوجل منونکي اودالله عزوجل دپاک نوم یادول ګران سو اودالله عزوجل دانبیاء اودهغوئ دملګرو اومنونکو په تکلیف اوعذا ب ورکولو اوټوقو اومسخروباندی ودریدل نوبیاالله تعالی پردوئ باندی عذاب نازل کړ مخلص مومنان یې وساتل اومنکرین اودروغجن یې هلاک اوبرباد کړه څوک په اوبو کې ډوب کړه اوڅوک یې په ځمکه کې ښخ کړه اوپرچایې له اسمان کاڼی واورول اوپه چا زلزله راغله اوپرچاباندی تیزباد مسلط سو اوڅوک یې بیزوګان اوخنزیران کړه

(اللّٰهُمَّ احفَظناَ مِن ذٰلِکَ کُلِّهِ آمین)

سیف لودین کتابتون

لنډه داچې دانبیاء اورسولانو علیهم السلام دنه منونکو اودروغجنو دغه پیښې چې دالله ﷻ عذاب دوئ هلاک اوبربادکړه دنړۍ په تاریخ کې یومنل سوی حقیقت دی او په دې کې دهیچا اختلاف نسته اوپه دې کې هیڅ شک نسته چې اصل عذاب ورکونکی عزیز منتقم دی مګر دهغه ښکاره کیدل تل په پرده اوواسطه سره کیږي چې بل چاته دخپلو دښمنانو دتباه کولو حکم کوي هغه پرته دخه ویلو دالله عزوجل حکم عملي کوی کله دریاب ته دخپلو دښمنانو دډوبولو حکم کوی، اوکله ځمکې ته ددوئ ده دننه کولو حکم کوی اوکله بادته ددوئ دزره زره کولو اوکله ملائکه وو ته ددوئ دهلاک اونیستی کولو حکم ورکړی دی .

خلاصه :

له کومه وخته چې دالله ﷻ نافرمانی اواحکم الحاکمین اودهغه دوزیرانو اواستازویعنی انبیاء اورسولان علیهم السلام څخه دسرغړونی سلسله جاره ده له هغه وخت ودوئ ته دعذاب ورکولو اوتباهی اوبربادی رنګارنګ عذابونه ددوئ دهلاکت اورسوایي لړۍ هم را روانه ده، اودادحکمت غوښتنه هم ده لکه څنګه چې دفرشتوپه لاس دانبیاء اورسولانو علیهم السلام ومنکرینو ته عذاب ورکول دحکمت غوښتنه ده دغه رنګه په خپله انبیاء اورسولانو علیهم السلام اوددوئ دملګروپه لاسو هم ومنکرینواودروغجنوته عذاب ورکول بیخی دحکمت غوښتنه اوعین حق دی لکه چې الله ﷻ فرمایي :

قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ بِأَيْدِيكُمْ (سورة التوبه آيت ۱۴) ژباړه : له کافرانو سره جهادوکوی اودوئ ووژنی ددې دپاره چې الله ﷻ دوئ ته ستاسوپه لاسوعذاب ورکړی .

له دې آیت څخه ښکاره معلومه سوه چې کوم عذاب چې کافرانوته دمسلمانانو په لاس ورکول کیږي هغه په حقیقت کې دالله عزوجل کاردی دبنده لاس دهغه دفعل دعذاب لپاره یوائې ښکاره کونکی اووسیله دی لکه چې کله ناکله وهل یاوژل دوهونکی څخه بیله واسطی صادریږي اوکله دغشی اوتوری په وسیله سره دغه رنګه دعذاب الهی ښکاره کیدل هم کله بیله واسطی کیږي اوکله دانسان یافرشتی په لاس هغه ښکاره کیږي لکه چې الله ﷻ فرمایي (وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَنْ يُصِيبَكُمُ اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِنْ عِنْدِهِ أَوْ بِأَيْدِينَا (سورة التوبه آيت ۵۲

ژباړه : اوموږ انتظارکوو چې الله ﷻ به تاسوته په خپله له خپل لوری څخه عذاب ورسوی اویابه یې زموږ دلاسوپه واسطه تاسوته عذاب ورسوی .

دادلوی خدای ﷻ عذاب کله دفرشتو په لاس وی اوکله یوائې دانسانانوپه لاس دجهاد په نامه سره وی اوکله دانسانانو اوفرشتو دواړو په لاس سره وی لکه دبدرپه غزا کې چې دمکی مشرکین دصحابه کرام رضی الله عنهم په لاسو اودفرشتو په لاس سره هم دواړه ډلی پریوه ځای دمحمدرسول الله ﷺ له نه منونکو اودروغجنوسره وجنګیدی اوله هغوئ سره یې جګړه وکوله ددې تفصیل به دبدرپه غزاکې راسی ان شاء الله ،،

سیف لودین کتابتون

دامنل سوی خبرده چی دمجرم وژل وامیر اوحاکم ته نسبت کیږی وتوره وهونکی ته یې نسبت نه کیږی په دې وجه الله ﷻ فرمایې :

فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ (الانفال سورة آیت ۱۷)

تاسودوئ نه دې وژلی بلکې الله ﷻ دوئ ووژل اوتاویشتل نه دی کړی بلکې الله ﷻ ویشتل کړی دی کله چی تایوموټی خاوری وروپاشلی.

یعنی ددې سرغړونکو وژونکئ په حقیقت کې زه یم اوته یوائې یوه آله یې څنګه چی غشی اوتوره ستاسود کارودپاره آله اوواسطه دی دغه رنګه تاسوزمادکارودپاره دغشی اولیندی په څیر واسطه اوښکاره کیدونکی یاست لکه چی ابوالطیب وایې :

فانت حسام الملک والله ضارب .... وانت لواء الدین والله عاقد

ته دپاچهی توره یې اوالله ﷻ وهونکی دی اوته ددین بیرغ یې اوالله ﷻ ددې بیرغ تړونکی دی بلکې دفرشتوپرځای دانسانانوپه لاس جهاد اوقتال دعذاب الهی دشکل په ښکاره کیدوکې یوخاص رحمت دی ځکه دفرشتوپه لاس چی کوم امتونه هلاک سوی دی هغوئ ته هیڅ وخت نه دی ورکول سوی اوکوموامتوته چی دجهاد اوقتال امرسوی دی هغوئ ته ددین داوریدو وخت اوپه حق کې دغوراوفکرکولوپوره وخت ورکول سوی دی کله چی ډیروخلکوداالله ﷻ ددین ساتنه اومرسته ولیدله دوئ په دې پوه سوچی دد ې ساتونکی اومرسته کونکی الله ﷻ دی اودالله ﷻ دفرشتوبی شمیره فوځونه ددوئ ودښمنانوته دغصی اوغضب په سترګه ګوری حق ته یې غاړه کیښوده اوپوه سو چی داد الله ﷻ له لوری رالیږل سوی اسمانی دین دی، اوچه ځمکه دریابونه بوټی اوکانی ټول ددوئ مرسته کوی دې خلکوته په غاړه ایښودوکې سلامتی ده اوڅوک چی ازلی بدبخته وهغه بیاهم په سپین سترګی سره په مقابل لوری کې پاته سو پایله داسوه چی په دنیا کې هم رسواسو اودآخرت درسوایی خویې پوښتنه مه کوه په دنیاکې چی هرڅومره لویه ګناه وی هغه ببښل کیږی مګر دبغاوت سزا دمرګ اوهمیشنی بند څخه پرته بل څه نه وی اوسره له دې داهم انسان دی اوهغه باغی هم انسان دی دیوځوورځومجازی باچهی دبغاوت سزا دبښلوړنه دی اوټول هوښیاران داحق اوپرځای بولی اوسره له دې باغی سړی نه پاچاپیداکړی دی اونه یوه زه په یوشئ کې دده محتاج دی نودهغه احکم الحاکمین ذات اولوی خدای ﷻ اوکبیرمتعال اودهغه داستازو یعنی رسولانو اوانبیاء علیهم السلام څخه سرغړونه به څنګه معمولی اوسپک وګڼل سی اودالله ﷻ داستازو څخه سرغړونه اودالله ﷻ دحکمونه منل څنګه ظلم اوتیری ونه ګڼل سی ددنیاپاچهان خپل فوځ دباغیانوپرخلاف جنګوی څوک وژنی اوڅوک بندی کوی اودباغیانوهرڅه شتمنی کنګل کوی اوبیاهغه شتمنی پرخپلو وفادارو اودحکومت پرپلویانو دانعام په ډول

سیف لودین کتابتون

ویشی ددنیادباچهانودغه کاردغلبی اوپاچهی غوښتنه ګڼل کیږی ؟ مګر دهغه احکم الحاکمین اواسمانو اوځمکودپاچاله سرغړوونکو سره جهاد اوقتال اوددوئ بندی کیدل اودوئ مریان جوړول اوددوئ شتمنی اومال په غنیمت نیولو باندی ولی ګوت نیونه کوی؟ لکه څنګه چی په جنګ کې دښمن ته بدنی تاوان رسول سیاست دی اودفوځی تدبیرغوښتنه دی دغه رنګه ددښمن په جنګی اومالی قوت باندی قبضه کول هم دفوځی تدبیرکمال اوپوره والی دی عجیبه خبره دی چی اروپا یان اوامریکایان چی دمسلمانانوشتمنی ګڼګل کوی نوهغه ته سیاست ویل کیږی اودفوځی تدبیرپه نامه یادیږی اوکله چی مسلمانان دالله ﷻ دباغیانوپرشتمنی واک راولی نوهغه ته بیالوټ مار چور اوتالان ویل کیږی اومسلمانانوته تروریستان ویل کیږی اوبل دادرته وایم چی په جګړه کې ددښمن روح اخیستل روادی نوبیادهغه دمال په اړه ولی دومره شور اوغوغا کوئ مسلمانان چی کله پریوه تجارتی قافله باندی حمله کوی نوآیاداقافله دهغو دښمنانو نه دی چی داسلام دروح اوبدن دښمنان دی ددښمن په روح اوبدن باندی واک راوستل په کوم قانون سره تاسونه منی اوبیاکله چی هغه قبضه دمال دحاصلولودپاره نه بلکې یوائې ددې دپاره وی چی کافران دالله ذوالجلال والاکرام له منلوسرغړونکي دی اوبل داچی دنړۍدځورورځو پاچهان خپل فوځونه دهیواددپرمختګ لپاره یوځای ته لیږی داستاسوپه نزدجائزاوروا کاردی (لکه نن چی امریکاپرافغانسان قبضه کړی دوئ دکانونواوزیرموپه لوټ اوتالان پسی راغلی اوغواړی دډیموکراسی نوی دین په افغانستان کې پلی کړی اوددیموکراسی په نامه افغانان عسویت ته واړوی الله ﷻ دې دوئ اوددوئ مزدوران ټوله نیست اونابود کې)مترجم) دانبیاء علیهم السلام جهاد اودصحابه کرام ﷺ ټولی قربانی یوائې اویوائې داعلاء کلمة الله دپاره وی ددې دپاره چی دالله قانون پرځمکه جاری سی اودالله ﷻ په احکاموپوری مسخری ونه سی اودالله ﷻ دنوم اخیستونکی دخپل حقیقی مالک په اطمینان سره نوم واخیستلای سی،کافران ایمان راوړی .اوکه یې نه راوړی نو داحکم الحاکمین اودځمکی اواسمانو د مالک داحکامود نافذولومخه ونه نیسی

دحضرت یوشع بن نون اوداؤداوسلیمان علیهم السلام جهاد دهمدې هدف لپاره وو اومسیح بن مریم علیه السلام به قیامت ته نژدی له اسمان درابنکته کیدووروسته دهمدې هدف لپاره له دجال اودهغه له لښکرسره جهادکوی لکه چی دمکاشفات یوحنا اودپولوس ددویم خط دتهلنکیوپه نامه سره ددې تصریح شوی ده.

ددنیا پرمخ تللی قوم که داغواړی چی پرته دحکومت اوپاچهی اوپرته له قوت اوغلبی دخپل عزت اوهیواداوناموس ساتنه وکړل سی نودانه سی کیدای اوکه څوک غواړی چی

سيف لودين كتابتون

په قلم سره بدرواجونه اوفاسدي مفکوري اوضعيف وهمونه پرته له سياست او انتظامه ختم کړي نودادامکان شخه وتلی خبر ده

پند اونصيحت رښتياهم موثردي مګر دپاکوطبيعتو دپاره دي ته که هرڅومره په اخلاص اوهمدردۍ سره ښه نصيحت وکوی مګر پرفاسدطبيعت هيڅ کله تأثيرنه کوی اودانسانانو طبيعتونه يورقم نه دي دچادپاره الله ﷻ کتاب نازل کړی دی اودچادپاره يې اوسپنه نازله کړې ده نن ورځ که هرڅومره واعظان پريوه ځای راوغواړې چې په خپل زړه راښکونکی تقريرسره ديوبدرواج ختمول غواړی نونه يې سی ختمولای مګردباچايو فرمان په يوه وخت کې دهيوادله سره ترپايه ښه اوبدهرڅه ختمولای سی ،،

نبی اکرم ﷺ سيدولدآدم خاتم الانبياء والمرسلين سيدنا ومولانا محمدصلی الله عليه وعلی آله واصحابه اجمعين چې کله احکم الحاکمين اوداسمانو اوځمکوپاچازيری ورکونکی اوويره ونکی وګرزوی اوددنيادلارښوونی دپاره يې راوليږی نوپه هغه وخت کې هغه بيخی يواځي وو نه يې مرستندوی اونه مشاوروو نه يې وزيراوپلان جوړونکی وو دالله عزوجل ديووالی اودراليږلوخبريې ورکړاودالله ﷻ ديووالی بلنه وکړه چې الله ﷻ يو دی داومنی اويوی يې وګڼی اوله هغه شخه هرشئ وغواړی هغه ته سرټيټ کړی له هربد کاراوبې حيايې اوله هری بدی خبری شخه مخ واړوی اودښو خويو اوکاروترغيب يې ورکی لنډه داچی هغه ددنيا اوآخرت هيڅ خيراونيکی نه پريښودله چې هغه يې نه وي بيان کړی اودهغه نيکۍ حکم يې نه وی کړی اوددنيا اوآخرت هيڅ داسی بدی يې نه پريښودله چې له هغې شخه يې دوئ منع کړی نه وی پاکو اوروغوطبيعمودده مبارک ﷺ خبره سراسرلارښوونه وبلله اوپه غوږو يې واوريده اوپه زړه يې قبوله کړه اوکوم کينه ګر اوضديان اودپيسو اوواک مينان وو هغوئ يواځی دانه چی وی نه منله بلکې په تکليف اوضرر رسولواومسخرو اوټوقوباندی ټينګ ودريدل اودهغه مبارک ﷺ دملګرو ؓ په تکليف رسولوکې يې يوه دقيقه ځنډ نه وه کړاودا تفصيل په مخکنيوپاڼوکې تيرسو مګر دوئ به صبر کوی اودهغولار ورکودپاره به يې دلارښودلوداسی دعاکوله (اللهم اهد قومی فانهم لايعلمون) دالله ﷻ له لوری رسول الله ﷺ اودهغه ملګروته ؓ ته ددې اجازه نه وه چې دمکی له مشرکينو په ژبه يالاس بدله واخلی بلکې داامرورته سوی وو

فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (البقرة سورة آيت١٠٩)

تاسوبښنه کوی اومخ اړوی ترڅو چې الله عزوجل په دې اړه نوی حکم نازل کړی بيشکه الله ﷻ په هرشئ باندی واک لری .

کله چې نبی کريم ﷺ اودهغه خواږه ملګری ؓ مدينی منوری ته راغلو نوپه همدې وخت کې دجهادآيتونه نازل سو .

سیف لودين كتابتون

دجهاد حکم څه وخت نازل سوی دی !

له ابن عباس(١)اوابوهريرةاوعائشه صديقه اوابوبکرصديق ﷺ زهری،سعيدبن جبير ،مجاهد،عروة بن زبير،زيدبن اسلم ،قتاده،مقاتل بن حيان،اودنوروسلفوڅخه دانقل سوی دی چی دجهادپه اجازه کې چی کوم آيت ترټولومخکې نازل سوهغه داآيت دی (٢)

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ (٣٩) الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَنْ يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ (٤٠) الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ (٤١) الحج سورة)

هغه خلکوته دجهاداوجنګ کولواجازه سوی ده چی له دوئ سره کافران جنګيږی دااجازه په دې وجه ورکړل سوه چی دوئ ډير مظلومان دی اوبيشکه الله ﷻ ددوئ په مرسته باندی قادردی اودکوموخلکوسره چی دفتح اومرستی ژمنه کيږی داهغه خلک دی چی دخپلوکوروڅخه پرته له څه وجهی ايستل سوی دی يوائي په دې وجه شړل سوی چی دوئ وايي زموږ رب الله ﷻ دی اوکه الله تعالی يوشميردنوروپه واسطه نه دفع کولای نودپخوانی وخت دراهبانوخلوت خانی اودنصارا اويهودو عبادتخانی اوپه دې اوس وخت کې مسجدونه په کوموکې چی الله ﷻ ډير ياديږی ټول به نړيدلی وای اوربښتيا هم الله ﷻ مرسته کوی دهغه چاچی دهغه ددين مرسته کوی بيشکه الله ﷻ زوروراوغالب دی اوموږددوئ مرسته کووکه موږ دوئ ته دځمکی پاچهی اوحکومت هم ورکړو نوهم دوئ زموږله لاری يوه زره هم نه اوړی لمنځونه کوی زکاتونه ورکوی اوبل چاته د نيکی حکم کوی اوله هری بدی څخه منع کوی اودټولوکاروپايلی دالله ﷻ په واک کی دی.

اودبعض علماء قول دادی چی دجهادپه اړه لومړی داآيت نازل سوی دی وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (١٩٠) سورة البقرة) اخرجه ابن جرير عن ابی العاليه

اوحاکم په اکليل کې ويلی دی چی لومړنی آيت دجهاد دادی{ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ [التوبة: ١١١] (زرقانی جلد ١، صفحه ٣٨٤)

---

(١) دابن عباس ﷺ روايت په مسنداحمداوترمذی نسائی اومستدرک اونوروکې ذکرسوی دی امام ترمذی حسن ورته ويلی دی حاکم وايې چی دبخاری اومسلم په شرط باندی صحيح دی زرقانی وزادالمعاد د ابوهريره ﷺ روايت عبدالرزاق اومستدرک ذکر کړی دی درالمنثور جلد ۴ صفحه ۳۶۴ دعائشه ﷺ روايت په نسائي کې په صحيح سندسره يادسوی دی زرقانی صفحه ۳۷۸ دابوبکر صديق ﷺ دزهری اوسعيدبن جبير ﷺ ذکر ابوبکررازی جصاص په احکام القرآن کې کړی دی جلد ۱، صفحه ۲۵ اودمجاهد څخه ترمقاتل پوری تفسيرابن کثيرجلد ۳، صفحه ۳۲۵ کې ذکر دی.

(٢) علامه زرقانی فرمايې چی داآيت په ۱۱ دصفردريم ۳ کال دهجرت باندی نازل سوی دی زرقانی جلد ۱، صفحه ۲۷۸ اوديوشميرله خبرودامعلوميږی چی دجهاددآيت نزول ترهجرت يوکال مخکی سوی دی

سیف لودین کتابتون

دجهاد اغراض او اهداف او مقاصد !

په دې آیت کې الله ﷻ په کوتاه ول دجهاد څه اغراض او هدفونه یادکړی دی او اشارهٔ یې دخلکو ددې شک ځواب هم کړی دی چې دوئ وایې : اسلام دجهاد په امرکولو سره دوینی تویولو دروازه خلاصه کړی ده ؟ دځواب لنډیز دادی چې جهادیوائې په اسلام پوری خاص نه دی بلکې مخکنیو انبیاء علیهم السلام ته هم دجهادامرسوی وو ځکه که جهادنه وای نو دالله عزوجل دنامه یادول به ګران و و اوټولی عبادت خانی به ورانی اونړیدلی وی اودالله ﷻ دامخکنی طریقه دی چې وخپلو مخلصانو ته دجهاد کولو حکم کوی ددې دپاره چې دمفسدینو او فتنه اچونکو شرا و فساد مخه ونیسی لکه چې الله تعالی فرمایې :

وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ (۲۵۱) آیت البقرة سورة)

که الله ﷻ یو شمیر خلکو دنورو په لاس نه بندولای نو په ټوله ځمکه کې به فساد خپور سوی وو مګر الله ﷻ پر ټول مخلوق مهربان او فضل کونکی دی دفتنی او فساد دمخنیوی دپاره یې دجهاد اجازه ورکړی ده ، کند زنگی مست در کعبه تی:::::::: اگر چوب حاکم نباشد ز پی

په دې آیاتو کې دجهاله غرض او هدف پرته دجهاد علت هم بیان سوی دی چې صحابه کرام رضی الله عنهم ته ولی دجهادامروسو هغه داچې په دوئ باندی رنګارنګ ظلم اوتیری وسو اوپرته له څه زیان رسولو اوبی له څه وجی له خپلو کورووشړل سو یوائې له دې امله وایستل سو چې دوئ ویل زموږ رب الله ﷻ دی او دجهاد امر یوائې دمکی د مشرکینو له ظلم او تیری څخه دخلاصون دپاره نه بلکې هدف دا و وچې ددوئ مرسته او ساتنه وسی وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ (۳۹ آیت الحج سورة) او یقیناً الله تعالی ددې بیوزلو اوبی اسری اوبی مال او دولت خلکو په بری او کومک باندی واکمن دی .

او قادر مطلق ددې واک لری چې ځمکه دوئ ته په لاس ورکړی او دخپلو احکامو دجاری کولو او نافذولو قدرت ورکړی ددې دپاره چې په ځمکه باندی له واکه وروسته په خپله هم په ځان او مال سره دالله ﷻ عبادت اوبندګی وکوی لمنځونه وکوی اوزکوة ورکړی اونورو ته هم دښو خبرو حکم کوی اوله بدوخبرو څخه منع کوی یعنی وکومو خلکو ته چې موږ دجهادامرکړی دی او ددوئ دمرستی اوساتنی ژمنه موکړی ددوئ شان دادی چې تر واکمن کیدو وروسته به ددنیاد پاچهانو په څیر په عیش او عشرت نه اخته کیږی بلکې په ځان او مال به پوره دالله عزوجل امر منی اونور خلک به هم وسیده لاری ته رابولی دښو خبرو حکم به کوی اوله بدوخبرو څخه به منع کوی لنډه داچې په خپله هم پوره دښو خویو څښتنان دی او نوروته هم دښو اخلاقو ښوونه کوی په خپله به هم پرسمه لار روان وی اونورو به ته هم سمه سیده لاروربښیی داغوره اوښه خویونه په خلفاء راشدینو کې په پوره معنی موجود وو او څنګه به نه وو څوک چې الله ﷻ داسمانی پاچهی دپاره

سیف لودین کتابتون

غوره کړې وي دهغه دپاره داصفات په کاردي لکه چې عثمان غني ﷛ فرمايلي دي چې په دې آيت کې الله ﷻ دخلافت اوواکمن کولومخکې ددوئ ستاينه اوصفت کړې دي چې دوئ به ترخلافت اوپاچهي وروسته هم لمنځونه کوي ،زکوة به ورکوي خلک به ښو اخلاقوته رابولي[1] اوله بدوخبرواوکاروڅخه به منع کوي اوداسې نورصفات چې تيرسو.

جهاد څه ته وايې؟

دجهادلفظ له جُهدڅخه جوړدي جهد معنی طاقت يعنی خپل ټول توان اوطاقت داعلاء کلمة الله لپاره وکاروي نه دمال اودولت دپاره اونه دقوميت دپاره نه دتربرګلوی دپاره اونه دوطن دپاره اونه دغښتلياد ښکاره کولودپاره اونه د دلاورۍ دپاره اونه دپاچهی دفراخۍ دپاره بلکې يواځې اويواځې دالله ﷻ دکلمه دلوړوالي دپاره خپل پوره توان اوطاقت داوبوپه څير ويوځای ته ورسوي ودې ته دشريعت په اصطلاح کې جهاد وايې .اعلاء کلمة الله يعنی دالله ﷻ کلمه (دين) لوړول که مقصود نه وي بلکې مال يادولت هدف وي ياقطع نظر دحق اوباطل څخه دهيواد اوقوم دساتنې دپاره يادخپلې غښتلتيا دښکاره کولودپاره وي نودالله ﷻ اودرسول ﷺ په نزد دغه جهادنه بلکې يوعام جنګ دی ځکه جهادخوهغه دی چې يواځې دالله ﷻ درضاء اوخوشالۍ دپاره وي ددنيااوځان غو ښتنې اونوروا غراضو اومقاصدو له شبهې څخه هم پاک وي

لنډه داچې يواځې دالله ﷻ دمنونکودالله ﷻ له باغيانوسره يواځې دالله ﷻ څخه دسرغړونې په وجه جنګيدلواوپه دغه لاره کې قرباني اوسرښندلوته جهاد وايې په دې شرط چې هغه قرباني اوسرښندنه به يواځې ددې دپاره وي چې دالله ﷻ کلمه لوړه سي ، اودهغه احکام په ځمکه کې نافذسي اوددنياهيڅ ګټه مقصود نه وي داسې قرباني اوسر ورکولوته په اسلامي شريعت کې جهاد وايې؛

که دچاهدف دمال لاسته راوړل ياخپل نوم لوړول وي ياله اسلام پرته دقوم اوهيوادساتنه هدف وي نوپه شريعت کې ودې ته جهادنه بلکې جنګ ويل کيږي لکه چې دابوموسی اشعري ﷛ څخه روايت سوی دی چې له رسول الله ﷺ څخه داپوښتنه وسوه چې يوسړی کله ددلاورۍ ښکاره کولودپاره جنګيږي اوکله دقومي غيرت اوساتنې دپاره جنګيږي اوکله دشهرت اوځان ښودنې دپاره جنګيږي په دوئ کې کوم يودمجاهدفي سبيل الله مصداق دی ؟نبی کريم ﷺ وفرمايل: مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ الله (بخاری)

څوک چې يواځې اويواځې ددې دپاره وجنګيږي چې دالله ﷻ کلمه دين لوړسي عزتمندسي نوهغه دالله ﷻ په لارکې رښتينی مجاهددی

امام بخاري په صحيح بخاري کې يوباب راوړی دی په نامه د(باب لايقال فلان شهيد) يعنی دچاپه اړه په پريکنده ډول دا نه سی ويل کيدای چې فلانی سړی شهيدسو ځکه چې دنيت

سیف لودین کتابتون

او خاتمې حال هیڅ چاته معلوم نه دی او په همدې باب کې یې یوه پیښه بیان کړې ده هغه داسې چې په یوه غزا کې نبی کریم ﷺ له مشرکینو سره جګړه وکړه نو د قزمان په نامه یو سړی د صحابه کرام ؓ په ټولۍ کې وو خوپټ منافق وو هغه په دې جنګ کې د مشرکینو سره ښه مقابله وکړه او ډیره دلاوري یې خلکو ته ښکاره کړه سهل بن ساعدی ؓ وویل یا رسول الله ﷺ (مااجزامنا الیوم احد کمااجزافلان) نن په مورږ کې هیچا دومره جنګ نه دی کړی لکه څومره چې فلانی وکړ .رسول الله ﷺ چې داخبره واوریده وې فرمایل (اما انه من اهل النار) خبردار چې دا سړی دوزخی دی دې جنګ نورهم دوام وکی په پای کې دا قزمان نامی سړی سخت ژوبل سو او د زخمو د تکلیف د نه راوړو له کبله یې ځان وژنه وکړه .

حافظ عسقلانی (۱) د دې حدیث په شرح کې فرمایي :چې د دې حدیث له ترجمة الباب سره مناسب دا دی چې دې سړی د الله ﷻ د پاره جنګ نه و وکړی بلکې د قوم د پاره جنګیدلی وو د قومی غیرت په بنایې سخت جنګیدلی وو په دې وجه د ته شهید نه ویل کیږی انتهی کلامه) له دې څرګنده سوه چې کوم سړی چې د نبی ﷺ په ساتنه کې د کافرانو سره وجنګیږی او د الله ﷻ د پاره نه وی بلکې د قوم او وطن د پاره وې نو د غه سړی ته مجاهد او شهید نه ویل کیږی داخو پرېږده چې له قومی او وطنی ورونو سره ملګری سی او د اسلام د لښکر په مقابله کې وجنګیږی هغه ته به څنګه مجاهد یا شهید وویل سی (۲)

حافظ بدرالدین عینی لیکی چې د جنګ ډګر ته تر ټولو مخکې دا سړی یعنی قزمان ووتی او تر ټولو مخکې ده پر مشرکینو باندی غشی وویشتل او دا ناره یې وکړه (یاآل اوس) اې داوس قبیلې خلکو راسی د خپل حسب او نسب او قبیلې او قوم ساتلو د پاره وجنګیږی ، قتادة بن النعمان ؓ چې کله پر دې سړی باندی تیر سو نو د ده حالت ډیر نازک وو ده ورته وویل (هنیالک الشهادة) اې قزمان د شهادت دې مبارک شه . قزمان دا خبره واوریده په ځواب کې ورته وویل (انی والله ماقاتلت علی دین ماقاتلت الا علی الحفاظ) قسم په الله ﷻ ما د دین اسلام د پاره جنګ نه دی کړی ما یوائې د خپل قوم او قبیلې د ساتنې د پاره جنګ کړی دی د دې مطلب دا را ووتی چې د قوم او وطن د پاره جنګیدل او په دې لاره کې وژل کیدلو سره سړی ته مجاهد او شهید نه ویل کیږی بلکې یوائې د الله ﷻ په لاره کې د الله ﷻ د پاره چې څوک د الله ﷻ له دښمنانو سره وجنګیږی او په هغه جنګ کې ووژل سی هغه وخت و داسې چا ته شهید او مجاهد ویل کیږی .

---

(۱) دحافظ عسقلانی اصلی عبادت داسې دی: انهم شهدوا حجانه فی امرالجهاد فلوکان قتل لم یمتنع ان یشهدوا له بالشهادة وقدظهرمنه انه لم یقاتل لله وانما قاتل غضباللقومه فلایطلق علی کل مقتول فی الجهاد انه شهید لاحتمال ان یکون مثل هذا (فتح الباری جلد ۶، صفحه ۶۶ کتاب الجهاد باب لایقال فلان)

(۲) لکه نن چې په افغانستان کې دامریکا مزدوران د قوم او هیواد په نامه جنګیږی پرچاپې دملی اردو نوم ایښې او پرچاپې دملی پولیس او دیر بدیې اربکیان دی دوی د وطن او قومیت پر بنیاد جنګیږی (اللهم عذبهم بایدینا آمین (حمدالله زابلی)

سیف لودین کتابتون

قزمان ترڈی وروسته ځان وژنه وکړه نبی کریم ﷺ وفرمایل (ان الله لیؤید هذاالدین بالرجل الفاجر) رښتیاهم کله ناکله الله ﷻ دفاجر او کافرپه ذریعه هم ددین تائید او ټینګ والی کوی دا روایت عمدة القاری جلد ۶، صفحه ۶۳۱ باب لایقال فلان شهید کې ذکرسوی دی .

وَمَا أَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِينَ (۱۶۶) وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا (۱۶۷) آیت آل عمران سورة)

ژباړه : او تاسو ته چی کوم غم ورسیدی په هغه ورځ چی دد وډلو یعنی کافرانو او مسلمانانو مقابله وسوه یعنی دأحدورځ نو هغه دالله ﷻ په حکم سره وسو او په هغه کې حکمت داوو چی مخلص مؤمنان اومنافقان سره بیل سی ځکه دمصیبت په وخت کې اخلاص اونفاق ښکاره کیږی او په دې ورځ منافقانو ته داوویل سو چی راسی دالله ﷻ په لاره کې دالله عَزَّوَجَلَّ دپاره وجنګیږی اوکه دالله ﷻ په لاره کې نه جنګیږی نو دخپل قوم دساتنی دپاره دخپل قوم اووطن اوکورنۍ اواولادو دساتنی دپاره ددښمن دفاع وکوی ځکه که دښمن کامیاب سو نو په بدله اخیستلو کې دمؤمنانو اومنافقانو توپیرنه کوی دعامو مسلمانانو په ځیر به تاسو ته هم زیان ورسیږی داآیت درئیس المنافقین عبدالله بن ابی بن سلول په اړه نازل سوی دی داحد په غزاکی مسلمانانو دالله ﷻ دپاره جنګ وکی او عبدالله بن ابی اونورومنافقینو چی کوم جنګ وکی نو هغه یواځي دقوم اووطن اوغیرت په نامه او ددښمن ددفاع په وجه دوئ وجنګیدل ،له دې ښکاره معلومه سوه چی دقوم اووطن دپاره ددښمن ددفاع کولونوم جهادنه دی په آیت شریف کې چی د قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا امرسوی دی دلته جنګ کول ددفاع کولو مقابل ګرزیدلی ده ددې مطلب هغه دی کوم چی موږ وړاندی بیان کی

په صحیح بخاری کې له عبدالله بن عباس ﷺ څخه روایت سوی دی چی څه مسلمانان دبدرپه جنګ کې دمشرکینو دشمیرزیاتولو دپاره دمکی له قریشو سره درسول الله ﷺ په مقابله کې راووتل اودبدرپه جنګ کې دامسلمانان دکافرانو په فوځ کې شریک سو دصحابه کرام ﷺ په لاس ووژل سول نو ددوئ په اړه داآیت نازل سو

إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنْتُمْ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا فَأُولَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا (۹۷) سورة النساء)

په تحقیق سره دکوموخلکو چی فرشتوروح قبض کی په داسی حال کې چی دوئ پرخپلو ځانوظلم کړی وو نو دوئ ته فرشتو درتتی اورزورونی په ډول وویل چی تاسو په کوم حال کې واست دې ظالمانو وویل چی موږ دکفرپه ځمکه کې وو اوددوئ ترلاس لاندی مجبوره وو فرشتو ورته وویل چی آیا دالله ﷻ ځمکه فراخه نه وه چی تاسو خپل وطن پری ایښې وای او دداسی خلکو داوسیدو ځای جهنم دی او دادیربدځای دی ېرته ورتلو دی .

سیف لودین کتابتون

داآیت چې دکوموخلکوپه اړه نازل سو دوئ که څه هم مسلمانان وو مګردقوم اووطن په نامه یې داسلام مقابله وکړه اودقوم اووطن دکافرانوپه لښکرکې دمسلمانانودجنګ دپاره راووتل (اعاذناالله من ذلک)

خلاصه دکلام دادی :چې داسلامی قانون دتنفیذلپاره چې کوم جنګ وسی دهغه نوم جهاددی اودوطن دکافرانوپه ملګری کې له نوروسره پرته داسلامی قانون دلحاظ ساتلودوطن دآزادی دپاره دجنګ کولونوم هیڅ کله جهادنه دی انبیاء علیهم السلام دخپل وطن له کافرانوسره یووخت نه اتحادکړی دی اونه یې له دوئ سره ګډ حکومت جوړکړی دی بلکې خپل ملګری یې له ځان سره کړی دی اودخپل قوم دکافرانوڅخه بیل یې دځان دپاره داوسیدو ځای جوړکړی دی اودجهاد تیاری یې کړی دی اوترټولومخکې یې په خپل قوم باندی حمله کړی اوهغه یې فتح کړی دی هررسول ترټولومخکې دخپل قوم دکافرانوسره جهادکړی دی دنوروپردیوقومودکافرانوسره وروسته جهادسوی دی لکه چې الله تعالی فرمایې :

[یَآاَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِینَ یَلُونَکُمْ مِنَ الْکُفَّارِ وَلْیَجِدُوا فِیکُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ مَعَ الْمُتَّقِینَ) التوبة آیت ۱۲۳]

درسول الله ﷺ ټولی غزاګانی لومړی له خپل قوم اوخپلوخپلوانوسره وی له پردیوخلکو اونوروقوموسره نه وی دبدرپه غزا کې مهاجرینو ﷺ مخامخ چاد پلار چادزوی اوچا دورور اوچاد آکا اوچادماما جګړه وکړه اوعامه خپلوی خودټولوترمینځ وه خوله ټولوسره یواځې دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ اودهغه ددین دپاره صحابه کرامو ﷺ توره له تیکی ایستلی وه (رضی الله عنهم ورضوا عنه) ایمان دداسی عشق نوم دی چې ترهغه دلیلی اومجنون ټول داستانونه قربانیږی اوقرآن اوحدیث چې دهجرت له فضائلوډک پروت دی دهجرت هدف همدادی چې دالله عزوجل اودهغه درسول ﷺ دپاره خپل مور اوپلار اوښځه اوبچیان اوخپل خپلوان ټول پریښودل سی دقوم اووطن خوهیڅ یادونه مه کوه صحابه کرامو ﷺ چې کله هجرت وکړ نودچاډوند ملګری چې کفرته پر اسلام ترجیح ورکړه اودکفرپه حالت کې یې دقوم اووطن استوګنه خوښه کړه نوهغې ته به یې طلاق ورکړښځه بچیان پیسی قدرت اوکور اوهرڅه یې پریښودل اودنبی ﷺ تابع سو اودمدینی لاره یې ونیوله رضی الله عنهم وحشرنا فی زمرتهم واماتنا علی حبهم وسیرتهم آمین یارب العالمین)

اې زماخوږوملګرو قومیت اووطن پرستی یوه فتنه دی دبت پرستی څخه وروسته دقوم پرستی اووطن پرستی درجه دی اودکفرٌ دون کفرٍ اوشرکٌ دون شرکٍ اوظلمٌ دون ظلمٍ مصداق دی إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ (سورة الحجرات آیت ۹) إِنَّ الْکَافِرِینَ کَانُوا لَکُمْ عَدُوًّا مُبِینًا سورة النساء آیت (۱۰۱)

ودې آیاتوته په کتلوسره مسلمانان ټول سره ورونه دی،،اودځمکی پرمخ ټول کافران یهوداونصاری مشرکین اودهریین ټول دمسلمانانو ښکاره دښمنان دی .

سیف لودین کتابتون

نکته: الله عزوجل اِنَّ الْكَافِرِيْنَ په صیغه دجمع وفرمایل اوددې خبرې عَدُوًّا مُّبِيْنًا مفردو فرمایل أَعْدَاءً یې ونه فرمایل ودې ته اشاره دی چې پرمخ دځمکې ټول کافران دمسلمانانو دښمنان دی او ټول په منزله دیوه دښمن دی او په منزله دیوه تن دی او په دوئ کې یوه ذره تعدد او اختلافه هم نسته

وو الله لقد صدق الله العظیم وانا علی ذلک من الشاهدین والمشاهدین والحمد لله رب العالمین

دقومیت پالونکو لویه غلطي

دقوم پرستو دا خبره چې دهیوادا و وطن اوسیدونکي ټول یو قوم دی دادهغوئ یوه لویه غلطي او تیروتنه ده ددې ډلې یو خاص نظراو خاص عقیده ده څوک چې په دې عقیده او نظریه کې ددوئ هم نظره او ملګری وی او څوک چې دنظراو عقیدی مخالف وی هغه ددوئ دښمن دې که څه هم ددوئ پلار یا ورور یا زوی یا استاذ هم وی

دمشرق او مغرب اوسیدونکی هغه چې ګډه عقیده لری دوئ سره له ډیر لیری والی نژدی او یو بلل کیږی او دوه حقیقی ورونه او دیوه کور اوسیدونکی که مختلف المسلک وی نو هغه دواړه یو دبل څخه ډیر لیری دی نوله دې معلومه سوه چې داتحاد دار و مدار پر هیواد او قومیت باندی نه دی بلکې داتحاد معیار او مدار په اتحاد مسلک باندی دی نو که شریعت اتحاد او دآخرت مدار په اسلام او کفر باندی بولی نو دا تعصب او تنګ نظری ولی ګڼل کیږی دشریعت ټول احکام دهمدې ایمان او کفر په ویش باندی مبنی دی مسلمانان او کافران یو دبل وارثان نه دی په همدې اسلامی تعلق سره بلال حبشی ؓ او صهیب رومی ؓ او سلمان فارسی ؓ په اسلامی ورور ګلوی کې شامل سو او ابو جهل او ابولهب سره له ډیری خپلوی پردی سوا و دابو طالب په څیر قربانی ورکونکی آکا داسلام دنه منلو په وجه دجنازی له لمانځه او دمسلمانانو په هدیره کې له ښخیدلو بی برخی پاته سو نبی کریم ﷺ چې کله دابو طالب په اړه دبښنی ددعاء اراده وکړه نو دمنع دا آیت نازل سو

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَن يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَىٰ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ (سورة التوبه آیت ۱۱۳)

او تر قیامته پوری دا حکم پاته دی چې دکافر او مشرک خپل دپاره دبښنی دعا نه ده روا.

دجهاد آداب !

(۱) کله چې له کوره وزی نو دالله ﷻ دنامه په یادولو سره ووزی

(۲) په تکبر غرور لویی سره مه وزی بلکې په عجز سره وزی.

(۳) په خپلو مینځو کې جنګ جګړې مه کوی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ خبره ومنی او هر وخت دهغه خبره په نظر کې ولری

(۴) دجنګ په وخت کې ثابت قدم اوسی تیښته مه کوی له صبر او زغم څخه کار اخلی

سیف لودین کتابتون

(۵) د جنګ په وخت کې هم د الله ﷻ له ذکر څخه مه غافل کیږئ د چادپاره چې د قربانی او سرور کولو دپاره وتلی یاست دیوی دقیقی دپاره د هغه څخه غفلت مه کوی .. لکه چې الله تعالی فرمایلی دی :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (۴۵) وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ (۴۶) وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَاللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ (۴۷) (سورة الانفال)

اي مؤمنانو کله چې د کافرانو له ډلی ستاسو مقابله سی نو د لاندی خبرو خیال ساتی

(۱) په جهاد کې ثابت قدم او سیږئ (۲) د الله ﷻ ذکر ډیر کوی د دې دپاره چې د هغه د نامه په برکت سره تاسو بریالی سی (۳) او په هر کار کې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ پیروی کوی (۴) په خپل مینځ کې جګړی مه کوی ځکه په دې سره تاسو بیغیرت کیږئ او ستاسو هیبت او دبدبه ختمیږی (۵) د هغه کافرانو په شیر مه کیږئ کوم چې د بدرپه دې پیښنه کې د خپلو کورو څخه په لویې او ځان ښوونه سره راووتل او خلک د الله ﷻ له لاری منع کوی او الله تعالی د دوئ پر کارو چاپیر دی .

(۶) په خپل ډیروالی او سازو سامان باندی هیڅ کله غرور مه کوي او دلږ والی څخه هیڅ کله مه بیریږئ په هر حال کې پر الله ﷻ باندی اعتماد او بروسه لری د بری او نصرت مالک یوائې او یوائې د الله عَزَّوَجَلَّ ذات و ګڼی لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُدْبِرِينَ (۲۵) ثُمَّ أَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَى رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنْزَلَ جُنُودًا لَمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَذَلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ (۲۶) (سورة التوبه

په رښتیا هم الله تعالی په ډیرو ځایو کې ستاسو مرسته کړی ده او د حنین په ورځ کله چې تاسو خپل ډیر والی په تکبر اخته کړلاست نو تاسو ته ستاسو ډیروالی یوه ذره کار هم ونه کی او ځمکه سره له ډیری فراخوالی پر تاسو تنګه سوه بیا تاسو شاته ولاړلاست بیا الله ﷻ خپل آرام او ډاډ نازل کی په خپل رسول ﷺ باندی او پر مؤمنانو باندی او داسی لښکریې راولیږی چې تاسو نه لیدی او کافرانو ته یې سزاء ورکړه او همدا سزا د کافرانو ده .

(۷) کله چې سپاره سی نو د الله ﷻ نعمتونه یاد کړئ چې هغه ستاسو د آسانتیا دپاره د دسفر د اسامان پیدا کړی او دا آیت وایاست: سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ (۱۳) وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ (۱۴) (الزخرف سورة) پاک دی هغه ذات چې تابع کړی دی زموږ دپاره دغه حیوانات او که دا نه وای نو په موږ کې دد ې توان نه وو او رښتیا هم موږ ټول الله عَزَّوَجَلَّ ته بیرته ورتلونکي یو

(۸) کله چې لوړځای ته خیژی نو الله اکبر وایاست الله عَزَّوَجَلَّ تر ټولو لوړ ذات دی او کله چې کښته کیږئ نو سبحان الله وایاست چې معنی الله ﷻ له هر رنګه کښته والی څخه پاک دی

سیف لودين كتابتون

(۹) الله ﷻ که په خپل فضل سره بری اوکامیابی درنصیب کړه نو دلښکرامیرته په کاردی چې دمجاهدینوصفونه ودروی اوپه دې الفاظو سره دالله ﷻ شکر اودهغه حمداوثنا ووایې اوټول لښکردې آمین وایې : اللهم لک الحمد لاقابض لمابسطت ولاباسط لماقبضت ولاهادی لمن اضللت ولامضل لمن هدیت ولامعطی لمامنعت ولامانع لمااعطیت ولامقرب لماباعدت ولامباعد لماقربت اللهم ابسط علینامن برکاتک ورحمتک وفضلک ورفقک (رواه النسائی اوبن حبان)

(۱۰) دفتح اوبری وروسته دفخرپه ډول مه وایاست چې موږفتح وکړه بلکې بری اوفتح الله ﷻ ته منسوب کوی چې هغه خالص په خپل فضل اورحمت سره موږته بری رانصیب کی لکه چې په حدیث کې راغلی دی چې رسول الله ﷺ چې به کله دجهاله خواراتلی نوداکلمات دتوحید به دهغه پرژبه جاری وو

لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ صَدَقَ اللّٰهُ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ (مسلم ، ترمذی)

(۱۱) سپیان اودهغوچونګوټیلن اودسروز سامان لکه باجه ،رباب اوداسی نور په قافله کې نه وی درسره څکه فرشتی له دوئ سره نه یوځای کیږی (رواه مسلم عن ابی هریرة ﷺ

یعنی دعیش اوعشرت اومستی هیڅ سامان دی درسره نه وی درنولوستونکو تاسوفکروکوی چې داسلامی جهادداسی شان دی چې په ښکاره خو دمجاهدینو لښکر دی خوپه پټه دنورالسموات والارض (الله ﷻ) دعاشقانو یوه ټولی روانه ده .

دجهاد اقسام

جهادخو قسمه دی ډیر قسمونه لری یوقسم دفاعی دی چې هغه ته دفاعی جهادوایې یعنی دکافرانویوقوم پرتاسوباندی بریدوکوی نوتاسوددوئ دمخینوی دپاره جنګ وکوی دجهادداقسم الله تعالی داسی بیان کړی دی :

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (۱۹۰) آیت سورة البقرة)

دالله ﷻ په لاره کې جنګ وکوی دهغه خلکوسره چې له تاسوسره جنګ کوی اوزیاتی مه کوی یقیناً الله ﷻ زیاتی کونکی نه خوښوی ..

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللّٰهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ (۳۹) الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَنْ يَقُولُوا رَبُّنَا اللّٰهُ (سورة الحج)

مسلمانانوته له هغه کافرانو سره دجهاد اوددوئ دوژلواجازه ورکړل سوی چې هغه کافران دمسلمانانو سره جنګیږی په دې وجه چې له مسلمانانوسره ظلم سوی دی اوبیشکه الله تعالی دمسلمانانو په مرسته باندی قادر دی دوئ له خپلورکوروڅخه پرته له څه وجی ایستل سوی دی پرته له دې بله هیڅ وجه نسته چې دوئ ویل چې زموږرب الله ﷻ دی

سیف لودین کتابتون

دجهاد دویم قسم : اقدامی یاتعرضی دی یعنی کله چی دکفر په قوت اوغلبی سره د اسلام دآزادی ویره وی نوپه داسی حالت کې اسلام خپلوپیروانوته داحکم کوی چی جهادوکوی ځکه کله چی ددښمنانوله لوری ویره وی نوداحتیاط اوددین دساتنی غوښتنه داده چی تاسوپه دوئ باندی بریدوکوی ددې دپاره چی اسلام اومسلمانان د کفر اوشرک له فتنی څخه خوندی سی اوپرته له څه ویری په امن اوعافیت سره دالله ﷻ احکام عملی کړی اوهیڅ قوت اوتوان دوئ له خپل ربښتینی دین څخه وانه ړولی سی اوبیرته ونه ګرزی اوهیڅ کافر دالله عزوجل دقانون دجاری کولواونافذولوکې مخه ونه نیسی په داسی وخت کې دعقل اوتدبیر اوسیاست همداغوښتنه ده چی دخطر ترپیښید و مخکې باید دخطرمخه ونیول سی په دې انتظارکښیناستل چی کله داخطرپیښ سی بیابه یې مخنیوی وکوو دادیره لویه کم عقلی اوناپوهی ده لکه چی دزمری او پړانګ ترحمله کولومخکې دهغه وژل اودمار اولړم ترچیچلومخکی دهغه وژل ډیر لوړتدبیر اوهوښیارتیادی که چیری غله اودرنده ګان په یوه زنګله کې یوځای سی نودعقل اوپوهی غوښتنه داده چی مخکې تردې چی دوئ ښارته راسی باید دوئ په هم هغه زنګله کې ووژل سی ددرندګانوپه وژلو سمدستی لاس پوری کول دعقل غوښتنه ده

لکه چی الله تعالی فرمایې :

فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ [التوبة:۵] مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا (۶۱) آیت الاحزاب)

په دې آیاتوکې دکافرانودوژلوامرسوی یعنی دوئ دزنګلی ځناوروپه شیرپه هرځای کې ووژنی ددوئ دمخنیوی فکر کول اوپه دې فکرپریښودل چی کله دادرنده ګان زموږ پر یوه ځای حمله وکوی نو هغه وخت به موږ ددوئ مخنیوی کوو داسی فکر اوتدبیر دهوښیارانو په نزدښکاره کم عقلی اوناپوهی ده دالله ﷻ په دې ارشادسره :

(وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (۳۹) آیت. الانفال)

په دې ارشادکې دادویم قسم جهادمراددی یعنی اې مسلمانانو تاسودکافرانو سره تر هغه وخته جهاد اوقتال کوی چی دکفرهیڅ فتنه پاته نه سی اودالله ﷻ دین ته پوره واک وریه برخه سی په دې آیت کې دفتنی څخه دکفر قوت اودبدبه مراددی او وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ څخه ددین لوړوالی اوغلبه مراددی لکه چی په بل آیت کې (لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ) یعنی دین اسلام ته دومره غلبه اوقوت حاصل سی چی دکفر دفتنی اوویری بالکل خوندی سی اوس نودین اسلام ته دکفرله فتنی څخه څنګه ډاډ اواطمینان حاصلیدای سی ددې اطمینان درې صورتونه دی

سیف لودین کتابتون

(۱) یوصورت دادی چی کفار دمسلمانانومخ ته سلاح وغورزوی او دمسلمانانوترلاس لاندی سی اوجزیه ومنی اوداسلامی حکومت ترلاس لاندی اوسیدل غوره کې یادجزیه پرځای دمسلمانانومریان سی

(۲) دویم صورت دادی چی کافران له مسلمانانوسره د امن معاهده لاسلیک کړی

(۳) دریم صورت دادی چی کافران له مسلمانانو څخه امن اوپناه وغواړی اودوئ د مسلمانانوپه پناه کې استوګنه غوره کړی نوله داسی کافرانوسره دجهاد حکم نسته په شریعت اسلامی کې دجهادحکم له جګړه کونکوکافرانوسره سوی دی دذمیانو او مستأمنینو کافرانوحکمونه جلادی ،کافران که په اسلامی حکومت کې اوسیږی دوئ داسلام اوعدالت اوسیمی په احکاموکې دمسلمانانو سره برابردی ددوئ دځان اومال اوعزت ساتنه پرمسلمانانو اواسلامی حکومت فرض ده په دې شرط چی دغه کافران غداری اوپټ چلونه جوړنه کړی اوددین دښمنان جګړه ماران اومستأمنین سره بیل دی ددوئ په احکاموکې فرق دټولو عاقلانوپه نزد منل سوی حقیقت دی .

دجهاد مثال

جهاد داسی مثال لری لکه دچاپرلاس چی دناسور دانه وخیژي نولومړئ خوبایدمرهم باندی کښیږدی چی دمرهم په ایښودلوسره هغه زخمونه ووزی ، که په دې نه سو ه جوړه نوبیاپه دویم درجه کې ښکرلګول دی بایدښکرولګول سوی اوپه ښکرسره یې زخمونه ووزی که په دې هم نه سی جوړه نوپه دریم ځل ډاکټر راولاړیږی اودااندام لاس وی که پښه داغوڅوی ددې دپاره چی نورااندامونه ځنی خراب نه سی اوددې دانی تأثیر ونورو ته اندامونه ولاړ نه سی په دې صورت کې ټول خلک ددې ډاکټرمننه کوی اوښه لوړفیس ورکوی اوټول عمرددده صفت کوی چی ده اندام پریکړی خونوراندامونه یې له خرابیدو وژغورل اوهیڅوک دډاکټرودې کارته وحشیانه اوظالمانه کارنه وایې ؟ همدغه مثال دروحانی طبیبانودتداوی اوعلاج دی لکه انبیاء اورسولان علیهم السلام دوئ هم لومړی دکفر پردانوباندی دوعظ اونصیحت مرهم ایږدی که په دې سره جوړ نه سواوداندام د جوړیدوامید ختم سیَ اوداویره هم وی چی داناروغی دبدن نورو اندامونه هم ځی یعنی ایمان لرونکي هم زیانمنه وی نوبیادا اندام پریکوی ددې دپاره چی نور پاته اندامونو ددې اندام له شره خوندي سی اوداخرابه ماده پرمختګ ونه کوی .

دویم مثال : دغلواولوټمارانومخنیوی دحکومت له فرائضو څخه دی که یې مخنیوی نه وسی نودحکومت نظام ختمیږی ؟ دغه مثال دایمان ددولت دغلواوداړمارانودی کله چی دوئ غواړی چی زموږ څخه دایمان اوحق سرمایه لوټ کړی اوددې کارخوښونکی وی چی معاذالله اهل حق هم دخپل ځان په څیر غله اوداړماران اوقاتلان یعنی کافران

سیف لودین کتابتون

جوړکړی اودالله ﷻ دمنونکوله نوم لړه ددوئ نوم لیری کړی اودباغیانوپه ټولی کې شامل کې نوله داسی خلکوسره هم جهادکول عین حکمت اوعین مصلحت دی بلکې فرض او واجب ګرزی اودشریعت دلوازمواوفرائضوڅخه کیږی اوددې غلو اوداړمارانوبیخ باید وایستل سی .

دجهاد اصلی هدف اومقصد څه دی ؟

دجهادپه حکم سره دالله ﷻ دا اراده نه دی چی په یوځل ټول کافران دمرګ په کنده کې واچوی بلکې مقصود دادی چی دالله ﷻ دین په دنیاکې حاکم سی اومسلمانان په عزت سره ژوندتیرکړی اوپه امن اوسلامتیاسره دالله ﷻ عبادت اوبندګی وکوی دکافرانوڅخه څه ویره نه وی چی ددوئ ودینی اموروته څه زیان ورسوی .

اسلام دخپلودښمنانودهسی وجودډښمن نه دی بلکې ددوئ دداسی دبدبی اوغلبی دښمن دی چی داسلام اومسلمانانو دپاره دویری باعث وی ددنیا پرمختللی اومتمدن قومونه هم داخبره منی چی دخپل ځان اومال اوعزت اوناموس دساتنی دپاره جنګ کول دانسان فطری حق دی اویوعزتمندانه فکر اودلاوره خیال دی مګر موږپه دې نه پوهیږو چی دمسلمانانو په حق کې له دې حق ولی سترګی پټیږی ددنیا هرپرمخ تللی ښاری سیاست مداران او ډلی هرناروا اوروا دروغ اورښتیا چل اوخطاایستنه هرڅنګه چی کیدای سی دخپل واک دپاره کوی اودخپلومخالفینو دماتولو لپاره چی کومه لاراوطریقه په لاس ورځی هغه کاروی ودې ته سیاست اوتمدن اوپرمختګ وایې مګر که حق اوحقانیت په روا طریقه اوډیر عدل اوانصاف سره پرباطل باندی واک غواړی نودغرب ډیموکراسان بیاودې ته تعصب اومذهبی لیونتوب اوترهګری وایې سبحان الله په کوم حق دین کې چی په خپلودښمنانوباندی دروغ ویل اوپه دوئ باندی توروپو ری کول اوپردوئ باندی ظلم اوتیری کول حرام ګڼل سوی اوددنیا ځان مال اوعزت اوشرافت ددوئ لومړنۍ فریضه اومقصددی دهغه په لوړوالی اوغلبی اودهغه په حاکمانه واک باندی همداډیموکراسان اوسیاسی غله اوداړماران ولی ګوت نیونی کوی دوئ د حق دین په عادلانه کوښښ کې هروخت خپله ژبه کاروی

داسلامی جهاد مقصددادی چی رښتینی عدل اوبرابری په دنیاکې راسی اوداروشن فکران اوډلی ټپلی دنړۍ امن خراب نه کی دکوم جنګ مقصدچی دعدل اوبرابری انصاف اوامانت اورښتینولی ساتنه اودرشوت غلاچور اوتالان بدکارۍ اوزنا کارۍ اونوروبدوخویواوبی حیایۍ اوټولو بدوکارو بیخ ایستل وی داسی جنګ به بربریت ظلم اوتیرئ نه بلکې اعلی ترین عبادت دی اودالله ﷻ پرمخلوق باندی بی پآیه شفقت اومهربانی دی .

سیف لودین کتابتون

اوپه قرآن کریم کې چې دجزیه کوم حکم سوی دی دهغه مقصد هم همدا دی چې دکفر او باطل زور ختم سی اودحق اوعدل زوراوواک ته باطل پرګونډوسی دجزیه په دې آیت کې حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ] } [التوبة : ٢٩ آیت]
له صاغر څخه دغه رنګه ذلت اوسپکوالی مراددی اوو داسی جزیه ورکونکو ته د شریعت په اصطلاح کې ذمی اومعاهد وایې ذمی اومعاهد په دې وجه ورته وایې چې الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ ددوئ دمال اوځانو دخوندینی ذمه واری اخیستی ده

اسلام اوزور !

(١) جهاددې لپاره نه دی چی خلک په زور په اسلام کې داخل سی بلکې داسلام دعزت اوناموس دساتنی لپاره دی اودنړۍ هیڅ یو قوم او هیڅ یو مذهب بیله حکومت دخپل ځان ساتنه نه سی کولای ، داسلام دښمنانو اسمان اوځمکه پرسر اخیستی په اوژبه اوقلم اوراډیو او ټلویزون له هری لاری داډانډوره خپروی چی اسلام دتوری په زور خپور سوی دی دوئ په دې نه دی خبر چی په شریعت کې مسلمان هغه سړی ته ویل کیږی چی په خپله خوښه اومینه اوشوق سره داسلام دحقانیت اقرارپه ژبه اوپه زړه دهغه تصدیق وکوی اوکوم سړی چی دڅه طمعی له امله یادویری له کبله اسلام یوازې په ژبه ومنی اوپه زړه کې دهغه تصدیق نه لری نوهغه سړی ته په شریعت کې مسلمان نه ویل کیږی بلکې منافق دی اوښکاره خبره دی چی داسی عقیده اوپوره باورداسلام نه بیلیدونکی جزء دی بلکې داسلام عین حقیقت دی په زوراوجبر سره نشی حاصلیدای اونه په کوم ترغیب اوترهیب سره اونه په څه طمعه اوتیروتنه سره لاس ته راتلای سی ژبه که څه هم په زور اوجبر دیو شئ اقرار کولای سی مګر زړه ددې هغه وخت تصدیق کوی چی کله هغه ته په ټینګو دلائلو دهغه شئ حقانیت ښکاره سی ددنیاټول ځواکونه که دا وغواړی چی په زوره دچا زړه داډمن کې نودامحال اوناشونی کاردی په تبر. غیشی ، چاړه اوتوره ټانګ اوټوپک سره هیڅ عقیده په زړه کې نسی ننوتلای اوله دې ښکاره حقیقته هیڅوک هم انکارنه سی کولای نوای پرمخ تللیونړیوالواوای روشنفکرانوډیموکراسانوستاسوداوینا چی اسلام دتوری په زور خپورسوی دی بیخی بی بنسټه اوبی اساسه اوبشپړه غلطه ده.
(٢) صحابه کرامو ﷺ دمکی دکافرانودلاس څخه پرلپسی دیارلس کاله رنګارنګ غمونه اودردونه پرځان یووړل ، مور ، پلار ، خپل خپلوان ټول یې داسلام له کبله پریښودل ، ددې خبری ښکاره دلیل دی چی هغوئ اسلام په ډیرخوشالۍ اومینه اوشوق سره قبول کړی وو اوداسلام خوند اوخوږوالی ددوئ په زړوکې داسی ننوتلی وو چی ددنیا ترټولو ترخه غمونه ددوئ دپاره خواږه وو اودومره خواږه چی ځان اومال هرڅه یې پر ځارکړه ای داسلام دښمنانوزه له تاسوپوښتم چی کوم شئ په زوراجبراوپرغاړه باندی په توره اینبودوسره ومنل سی دهغه حالت داسی وی ؟

سيف لودين كتابتون

(۳) داسلامی شریعت مقصداوهدف دادی چی خلک په خپله خوښه داسلام احکام ومنی ددي دپاره چی ثواب اودآخرت خلاصون پرهغه باندی مرتب سی بنده داختیاری ایمان مکلف دی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ په نزد هغه ایمان او اسلام معتبردی چی دزړه له تله وی دجبر اودزور ایمان ته هیڅ اعتبار نسته په دي وجه دالاربنودنه موږته سوی ده

وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَنْ فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا أَفَأَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّى يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ (سورة الیونس آیت ۹۹)

که الله ﷻ غوښتی نودټولی ځمکی خلکوبه ایمان راوړی وای آیاته په خلکوباندی زورکولای سی چی دوئ ټول ایمان راوړی

وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ (سورة الکهف آیت ۲۹) څوک چی غواړی ایمان دی راوړی اودچاچی زړه غواړی کفردی خوښ کی حق ښکاره دی زورته هیڅ اړتیانسته.

(۴) رسول الله ﷺ چی څه وخت دنبوت اعلان وکړ اوخلک یې اسلام ته راوبلل په هغه وخت کې یوائی وو هیڅ یو حکومت اوپاچهی دهغه پلوی نه وو نه یې په لاس کې توره وه چی په هغې یې څوک ویرولی وای دنورو خلکوبه څه درته وایم دخپلی کورنۍ خلک چی دهرسړی فطری مرسته کونکی وی هغه هم درسول الله ﷺ دښمنان اودوینوتږی وو دظلم اوتیری هیڅ داسی نوعه پاته نه سوه چی دهغه تجربه یې پررسول الله ﷺ اودهغه پرصحابه ﷺ باندی نه وی کړی که الهی وحی درسول الله ﷺ تسلی نه کولای نودهغو اوغمواودردوپیښوبرداشت تقریباً امکان نه درلودی په داسی حالت کې څنګه زور اوجبرامکان لری هیڅ کیدای نه سی چی ده دي پربل چازور رواستلای وای ؟

(۵) له بعثت وروسته په مکه مکرمه کې دیارلس کاله هغه ﷺ واوسیدی په دي وخت اوپه دي حالت کې په سلهاوو قبیلی په اسلام کې داخلی سوی، لکه ابوذرغفاری ﷺ داسلام په لومړیو شپو ورځوکې مسلمان سو کله چی بیرته خپلی سیمی ته ولاړی نودده په بلنه سره دغفارنیمه قبیله مسلمانه سوه ، اوترهجرت مخکې دري اتیا نارینه اواتلس میرمنی چی په اسلام مشرف سوی وو دمکی دکافرانو له لاسه په تنګ سو حبشی ته ولاړو هجرت یې وکی نجاشی دحبشی پاچادجعفرطیار ﷺ دخبرو په اوریدوسره په اسلام مشرف سو ترهجرت مخکې دمدینې اویا ۷۰ کسان په منی کې درسول الله ﷺ په لاس مبارک باندی بیعت وکړ اودمصعب بن عمیر ﷺ په دعوت اوبلنه په مدینه منوره کې دبنی عبدالاشهل قبیله په یوه ورځ کې ټوله په اسلام مشرف سوه او وروسته نور پاته انصارهم په اسلام مشرف سو .

داټولی قبیلی اوخلک دجهاددحکم ترنازلیدومخکې مسلمانان سوی دی او ابوبکر صدیق ﷺ اوعمرفاروق ﷺ اوعثمان غنی ﷺ اوعلی بن ابی طالب ﷺ داهغه خلک دی چی څلورکونجه دنیاته یې اسلام ورسوی داسلام دازمریان دجهاد دآیت ترنازلیدو مخکې په اسلام مشرف سوی دی .

(۶) دنجران اوشام نصاری چامجبوری کړی وو چی ددوئ هیئتونه به راتلو اودرسول الله

سیف لودین کتابتون

ﷺ په خذمت کې به حاضریدل اوپه اسلام به مشرف سو له هرلوری دهيئتولړی جاری وه هیئتونه به راتلل دنبی کریم ﷺ په خذمت کې به حاضریدل او اسلام به یې قبولوی زور خوپریږده نبی کریم ﷺ خودوئ ته یوڅوک ور لیږلی هم نه وولکه چی داییان به وروسته راسی دوفدو یاپلار روپه بیان کې . ان شاء الله العزیز .

(۷) جهاد تردین اسلام پوری ځانګړی اوخاص نه دی بلکې دمخکنیو انبیاء علیهم السلام په شریعت کې هم جهاد وو نوکه داسلام دترقی اوخپراوی سبب یوائې جهاد وی نوپه نورو ادیانو کې خوهم جهادوو هغه ولی په داسې تیزی سره خپاره نه سول په تاریخ کې داسی ډیر مثالونه سته چی دواک په وخت کې دیهود اونصاراوو پاچهانو هریوه خپل دخپل مخالف لوری عام وژنه کړی ده .

(۸) اسلامی پاچهانو که خلک په اسلام مجبوره کولای یایې هغه پلونه اوفریبونه دو کی کولای لکه نن چی یې غربیان دعیسویت دتبلیغ دپاره کوی لکه پیسی . ډالر، دقدرت نشه، تهدیدونه ، بندیزونه ، پټی ژمنی ، دمرستی په ، مه مؤسسی جوړول خوپټ عسویت خپرول ، نواوس به د اسلام په خاوره کې یو کافر هم پاته نه وای ځکه کله چی له حق اوربتیا سره ددنیا ګټه هم ملګری سی نوبیادحق په منلو کې څه فکر کیږی لکه چی په طمع اوفریب سره دتثلیث ډنډوره ږغږول کیږی ،اوپه یوانسانی بدن کې سره له ډیره احتیاج دبشریت اولوهیت یوځای کیږی اوکاڼی اوبوټی ته خدای ویل اوماده اوروح ته دالله په څیرپخوانی اوازلی اوابدی ویل اوسرمدی منل چی داکیدای سی دطمع اوپیسو اونوروامتیازاتو دپاره ، نودالله ﷻ دتوحیداو خالص یووالی اودهغه په بیچون اوچرا اودعلم اوقدرت اوسمع اوبصرشان ددې له طمع سره منل خونوبیا هیڅ مشکل نه دی مګر داسلام ښائست اوجمال له دې ، ښخه پاک اوبی پروادی چی دزر اوښځود ښائست په ذریعه خپورسی اودشیطانی دلیندی په ذریعه خپل ۔ ښی وویلی (۱) کوم خلک چی ددې لاری ښخه یو دین غوره کې هغه دالله ﷻ بندګان نه بلکې هغه دروپی اوډالرواورُوبلوبندګان دی (نعوذبالله من ذلک)

(۹) همدارنګه داسلام قوانین په خپله ددې شاهدی ورکوی چی اسلام دتوری په زور نه دی خپورسوی ځکه په اسلام کې داسلام دخپراوی قانونشته هغه دا چی کله په کوم قوم باندی حمله کوی نولومړئ دوئ ته داسلام بلنه ورکوي ورته وواياست چی ایمان راوړی که دوئ ایمان راوړی نودوئ ستاسو ورونه دی ستاسو اوددوئ هیڅ توپیر نسته ټول سره یویاست اوکه اسلام نه راوړی اوپرخپل دین پاته کیدل غواړی نودوئ ته وواياست

(۱) دشیطان وپناده چی ښځه زماپخوانی لینده ده ددې له لاری چی زه کوم غشی وویلم هغه خطانه ځی ، فافهم واستقم ،

سیف لودین کتابتون

چې تاسو د اسلامي حکومت دا مر منلو ژمنه وکوي جزیه قبوله کړي او په حکومتي چارو کې به هیڅ لاس وهنه نه کوي نو موږ ستاسو د ځانو او ستاسو د ناموس ساتونکي او ذمه واریو ستاسو د ځان مال او عزت ساتنه به د مسلمانانو د ځان او مال عزت په شیروی په دې شرط تاسو په اسلامي حکومت کې له عیسویت او یهودیت او مجوسیت سره او سیدای سي اسلامي حکومت به ستاسو په دین کې هیڅ ډول مداخله نه کوي او ستاسو د پاره به د مذهب ازادي وي چې اسلام به خپل خاص احکام پر تاسو نه جاري کوي مثلاً شراب څیښل په اسلام کې حرام دي او ستاسو په دین کې روادي په دې وجه اسلام پر تاسو د شراب څیښلو او د هغه د ارانیولو او پلورلو پابندي نه لګوي د نکاح لپاره چې په اسلام کې کوم شرطونه دي اسلام تاسو د هغه په کولو نه اړ کوي تاسو ته به د خپل رواج برابر نکاح کوي او داسي نور.

او که تاسو نه اسلام مني او نه جزیه ورکوي نو بیا د توري فیصله ده نو له دې معلومه سوه چې د توري حکم د دوئ د اسلام راوړلو لپاره نه دی بلکې په آخري درجه کې د دوئ د سرکښي په ځواب کې دی نو که اسلام د توري په زور خپور سوي وای نو تر ټولو مخکې به د توري حکم وو په دریمه درجه کې به توره نه وای بلکې په لومړي ځل به وه.

(۱۰) که اسلام په زور سره خپرېدلای نو په زور او مجبوری سره اسلام راوړونکي به پر اسلام باندي عاشقان نه وای ځکه د زور خبره خو په ښکاره وي په زړه کې هیڅ ځای نه لري نو کوم خلک چې په زوره مسلمانان سوي وای د هغوئ حالت به داسي وای چې په ښکاره به یې په ژبه د اسلام کلمه ویله او په زړه کې به د هغې څخه متنفر او بیزاره وو او سره له دي مسلمانان په زړه او بدن په ښکاره او پټه یوا ځي او په ټولي کې په اسلام باندي عاشقان او تر اسلام ځان ځارونکي دي او تر مسجد به یې په کور کې ډیر عبادت نه کوي او په اسلام باندي خپل ځان او مال ورکول به یې نیک بختي نه ګڼله .او بل دا چې د شریعت دا مسئله ده چې کوم سړي یوا ځې په ژبه لااله الاالله محمد رسول الله و وایې د هغه وژل نه دي روا نو کوم دین چې د دښمن مخ ته دا یوه خبره ایږدي چې په یو ځل ویلو سره سمدستي پریښنو دل کیږي آیا دا دین په زور او جبر د و مره پر مختګ کولای سي د زور د لته هیڅ ځای نسته د هر کافر په ټینګو لو سره د کلمي یه یو ځل لوستو سره له مرګه ژغورل کیږي او بیا په قدرت او وخت پیدا کید و باندي خپل مخکني دین ته بیرته اوړېدای سي او بیا د دې څه وجه دي چې کوم و خلکو چې په زور او جبر سره اسلام منلی دی هغه ټول عمر ولي د دې زور پابند سو په وخت پیدا کولو کې خپل پخواني دین ته ولي بیرته نه وا وښتل (فتلک عشرة کاملة)

سیف لودین کتابتون

اسلام او دمريي توب مسئله :

الله تعالی چې کوم عزت او کرامت انسان ته ورکړی دی هغه يې وبل هيڅ مخلوق ته نه دی ورکړی خپل خاص صفات کماليه، لکه علم، قدرت، سمع، بصر، تکلم او اراده، انسان يې ددې ټولو صفاتو ډښکاره کيدو ځای ګرزولی دی په خپل خلافت سره يې نازولی دی دفرشتو مسجود يې ګرزولی دی په ټول مخلوق باندی يې انسان غوره والی ورکړی تر څوچې ابليس لعين وويل (هَٰذَا الَّذِي كَرَّمْتَ عَلَيَّ) ټول کائنات يې دانسان لپاره پيدا کړی او انسان يې دخپل عبادت او بندګی لپاره پيدا کي هغه ته يې ازادی ورکړه او ټوله ځمکه يې دهغه په ملکيت واک او اختيار کې ورکړه لکه چې الله تعالی فرمايي (خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا (٢٩ آيت سورة البقرة) مګر کله چې دې ناپوه انسان دخپل پيدا کونکی او پالونکي له بندګی او امرمنلو سرغړونه وکړه او دالله ﷻ څخه دسرغړونی او بغاوت (کفر) ذمه يې واخيسته ادالله عزوجل دا استازو انبياء عليهم السلام سره دمقابله او جنګ دپاره وميدان ته راووتل نو ټول کرامتونه او امتيازات يې له خاورو سره خاوری سو او هغه آزادی چې انسان ته ورکړل سوی وه هغه په يوه ځل ځنی واخيستل سوه او دالله ﷻ دغه باغيان او سرکښه انسانان يې دخپلو هغه نيکو بندګانو چې دالله عزوجل دکلمی دلوړولو دپاره ځان قربان وی مريان جوړ کړل او دوئ ته يې دا اجازه ورکړه چې دحيواناتو په شير او دخپلو رانيول سويو مالو په شير څنګه چې تاسو غواړی ددې پلورل او رانيول وکړی تاسو ته ددوئ د رانيولو خرڅولو او ګينه کولو پوره إختيار سته او دوئ ستاسو له اجازی پرته هيڅ کار نه سی کولای دهرجرم سزا دهغه جرم په اندازه وی څومره چې جرم غټ وی نو سزا يې هم دغومره غټه وی دغلا او لوټ مجرم دڅو ورځو بندی کيدو وروسته بيرته ازادېږی ځکه دا جرم دا جرم دعوامو خلکو په مقابل کی دی مګر دبغاوت جرم نه ښښل کيږی ځکه هغه دحکومت په مقابل کې دی او له حکومت بغاوت او سرغړونه نه ښښل کيږی ځکه دالله ﷻ ارشاد دی :

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ (٤٨ آيت سورة النساء)

يقيناً الله تعالی هغه ګناه نه بخښی چې له الله ﷻ سره څوک شريک ونيسی او دشرک څخه کم درجه ګناهونه ښښی وهغه چاته چې دالله ﷻ خوښه سی.

ځکه کافر او منکر په اصولی ډول د الله عزوجل او دهغه رالیږل سوی قانون نه منی او نه خپل ځان دالله تعالی دخوښی پابند ګڼی، په دې وجه داسړی دالله ﷻ باغی دی که څه هم په فطری يا عقلی يا اخلاقی ډول باندی له ده څخه داسی اعمال سوی وی چې هغه دشريعت مطابق وی ځکه دا اطاعت او پيروی نه بلکې يوازی په صورت کې برابری ده په اصل کې خودئ باغی او دالله عزوجل نه منونکی دی او ښکاره خبره ده چې اصلی مخالفت او په پوره معنی نافرمانی دعقيدی کوږوالی دی په لړ او ښکاره برابری نه ښښل کيږی ؟

سیف لودین کتابتون

له دې کبله له ایمان او اسلام پرته ښښنه امکان نه لري او ټول ښه عملونه او غوره خویونه پرته له ایمان هیڅ دمنلوړ نه دی خوداداسې نه دی لکه فاسق مسلمان ځکه دهغه سرغړونه جزئي ده په اصل کې الله ﷻ او دهغه دقانون منی کله چې کومه ګناه کوی نو دالله ﷻ ودربارته بیرته ورګرزی او په ډیر عجز اوزاریو او په ډیره پښیمانتیا او شرم دخپلې ګناه ښښنه غواړي په دې وجه دالله ﷻ لارښود نه موږ ته سوی ده :

وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ أُولَئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ (٢٢١ آیت سورة البقره)

هرومرو مسلمان مریئ ترآزاد کافر ډیر غوره او ښه دی که څه هم ستاسو ډیر خوښ وی ځکه داخلک جهنم ته بلنه ورکوی .

دحکومت پلویان او ځان ځارونکي له باغیانو او غدرانو سره برابرول دعقل او فطرت او دپا چهی په قوانینوکې ښکاره ظلم او تیری دی هغه کوم پرمختللی حکومت دی چې ددوئ په قانون کې دپلویانو او باغیانو لپاره یورنګه احکام وی درب العالمین ارشاد دی

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ (٣٥ آیت القلم سورة)

آیا موږ امرمنونکی خلک له مجرمینو سره برابرکړو چې ددواړو په احکامو کې هیڅ فرق رانه سی په ټوله پرمخ تللی نړۍ کې دحکومت دباغیانو او حکومتی مجرمانو سزا ترغلو او بدمعاشانو اوچلبازانو او جعل سازانو ډیره زیاته ده پرچاباندی چې دبغاوت جرم ثابت سی نو دهغه سزادمرګ یادټول عمر بنداویاله هیواده شړل دی که څه هم دسرغړونی او نافرمانۍ ماده په دواړو مجرمانوکې شتون لری مګر دغلو او بدماشانو سرکښي درعیت دیوسړي یاڅو کسانو په مقابله کې وی اودباغیانو اودحکومت دمجرمانو سرغړونه اونه منل دپاچا او حکومت ادحکومت دقانون په مقابل کې وی باغیان غواړي چې حکومت ونړیږی اودټولو پرمخ تللیو حکومتو په نظر تربغاوت لویه ګناه نسته دغلا او بدکارۍ ګناه دبغاوت په نسبت هیڅ حقیقت نه لري دحکومتو منل سوی قانون دی چې څوک دحکومت سرغړونه وکوی نو دهغه ټوله فطری ازادی ختمیږی اودهغه ټول مال اوجایداد قبضه کیږی اودسپک او خوار ذلیل حیوان په څیر معامله ورسره کیږی که څه هم داحکومتی مجرم هرڅومره هوښیار لائق اوغوره سړی وی اوکه څه هم دامجرم په پوهه اوزده کړه اوعقل کې ترباچا هم زیات وی خوبیا هم له ده سره دیوه چارپای چلند کیږی نو اې لوستونکو کله چې یوه مجازی اوجوړسوی حکومت ته دخپلو باغیانو دازادی اخیستلو اختیار سته نو هغه خدای ﷻ ته چې هغه ودې باغیانو اوسرکښانو ته دوجود اوژوند اوعقل اوپوهی سرمایه ورکړی ده وهغه ته ددې اختیار ولی نسته چې هغه له خپلو سرغړونکو باغیانو کافرانو څخه خپلی ورکړی آزادی واخلی اودوئ تل دمریئ توب په زنځیر وتړی .

سیف لودین کتابتون

حاصل :دادی چی مریئ توب دخدای ﷻ شخه دسرغړونی سزاده په دې وجه ددې مسئلې یادونه په تورات اوانجیل کې هم موندل کیږی بلکې هیڅ اسمانی دین اوملت نسته چی په هغه کې دمریئ توب مسئله نه وی له دې څرګنده سوه چی دمریې توب مسئله دټولو اسمانی ادیانو اوملتو اجتماعی اواتفاقی مسئله ده نه یوائحی ددین اسلام مریئ توب که په خپل ځان کې بدشئ وای نوپه هیڅ شریعت کې به نه وروا له تورات اوانجیل شخه ثابته سوی چی دابراهیم ؑ شخه واخله بیاترعیسی ؑ پوری ټولوانبیاء اورسولان علیهم السلام ورته رواویلی دی معاذالله که مریئ توب قبیح لذاته وای یا غیر انسانی عمل وای یاڅه شرمناک کاروای نوانبیاء علیهم السلام داڅنګه رواګڼی آیاانبیاء کرام علیهم السلام په دې نه پوهیدل چی مریئ توب بدشئ دی په ذات کې اودفطرت له قانون شخه خلاف دی ، ماریه قبطیه دمینځی په ډول درسول الله ﷺ په بستره کې نه وه له کومی چی ابراهیم ؓ پیداسو آیاټول عمر نبی کریم ﷺ ددې بدکار کونکی وو معاذالله معاذالله دفطرت دقانون شخه یې خلاف کارکوی اوکه دمحال په ډول دافرض سی چی دانبیاء کرامو علیهم السلام شخه په دې اړه غلطی سوی نوبیاسوال دادی چی هغه علیم اوقدیرذات دوحی په ذریعه په دې غلطی باندی ولی دوئ نه پوه کول تراسلام مخکې هیڅ قوم داسی نه وو چی په هغه کې دی دمریئ توب رواج نه وو کله چی اسلام راغلی نوهغه یوائحی مریئ توب جائزاوروا وبلی مګر اسلام دمریئ توب هغه ناروا رواجونه منع کړه چی هغه دانسانیت خلاف وو اوله مریانوسره کیدل اسلام دمریانو اودمریانودمالکانوحقونه وویشل اوتعین یې کړه دمریانودآزادولودپاره رنګارنګ لاری وښودی هغه چی دحدیث اوفقه په کتابوکې تفصیلایادسوی دی هواسلام مریئ توب بالکل پای ته نه ورسوی ځکه دادخدای جل جلاله شخه دسرغړونی اوبغاوت یعنی کفر سزاء ده ترڅوچی په دې نړۍ کې کفراوشرک پاته وی ترهغه وخت پوری به مرئي توب هم پاته وی اوپه کارهم همدادی ځکه کله چی ګناهګارموجودوی نوسزاء ولی نه وی، شریعت اصل مریئ توب پرخپل ځای پریښودی خودهغه دمفاسدوسمون یې وکړ دهرګناه بدوالی تریوی اندازی پوری وی مګر دخدای ﷻ دبغاوت اوسرغړونی بدوالی هیڅ اندازه نه لری اوددې هیڅ پای نسته اوداسلام هدف اومقصددکفر ذلت دی دغلااوبدکاری منشأ خوحرص اوشهوت دی اودالله ﷻ شخه دسرغړونی منشأ تکبر اوځان لوی ګڼل دی لکه چی الله ﷻ فرمایي :أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ (۳۴) البقرة سورة) له دې کبله دمخکې یادوسوجرمونوسزاء دهغه مناسب وټاکل سوه اودکوم جرم منشأ چی تکبر اوځان لوی ګڼل دی دهغه سزا ذلت یعنی مریئ توب وټاکل سو (وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا (۴۰ آیت سورة الشوری)) اوکوموخلکوچی

سیف لودین کتابتون

دالله عزوجل او دهغه د رسول ﷺ خبره ومنله او دالله عزوجل پرلاره ولاړو الله تعالی ددوئ عزت ښکاره کړچی دوئ یې ددې سرغړونکو باغیانو او سرکښانو مالکان او بادارن جوړ کړه :

قال الله تبارک و تعالی وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ [المنافقون سورة : ٨ آیت

څوک چی په دې نړۍ کې دخیر او شردایمان او کفر دنیکۍ او بدۍ دمؤمن او کافر بیلوالی منی هغه په دې مسئله کې هیڅ سوال نه سی کولای او څوک چی له لویه سره دخیر او شر دنیکۍ او بدۍ ویش نه پیژنی له هغه سره زموږ هیڅ خبره نسته ځکه هغه بیخی انسان نه دی بلکې حیوان مطلق دی په قرآن کریم کې د(مَامَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ) لفظ پنځلس ځایه راغلی دی او دګناه په کفاره کې دمریئ دآزادولو حکم هم په قرآن کریم کې ښکاره ذکرسوی دی او دمریئ دکتابت حکم هم په قرآن کریم ښکاره یادسوی دی دداسی ټولو آیتوڅخه دمریی توب ثبوت دومره ښکاره دی چی هیڅ یوانسان له دې څخه انکارنسی کولای او په حدیث کې راغلی دی (المکاتب عبدمابقی علیه درهم) هغه مریئ چی دپیسو په بدله کې یې له مالک سره خط لیکلی وی ترڅوچی دده پرذمه یوه روپۍ پاته وی ترهغه وخت مریئ دی ، سعدبن معاذ رضی الله عنه چی کله دبنی قریظه په اړه داپریکړه وکړه (تقتل مقاتلهم وتسبی ذریتهم) ددوئ جګړه ماران دی ووژل سی اوددوئ ماشومان دی مریان سی نورسول الله ﷺ وفرمایل قضیت بحکم الله اې سعدبن معاذ رضی الله عنه تادالله جل جلاله دفیصلی برابره پریکړه وکوله او داو طاس دغزادمریانو په اړه داآیت نازل سو :

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَاۗءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ (النساء سورة آیت ٢٤) دقرآن اوحدیث څخه دمریئ توب ثبوت ترلمرډیر روښانه او ښکاره دی ،،،

عارف رومی قدس الله سره په مثنوی دفتر څلورم صفحه ١٢١ کې فرمایې درتفسیر این حدیث

(انَّ اللّٰه تعَالَی خَلَقَ الملائکة ورکب فیهم العقلُ خلق البهائم ورکب فیها الشهوة وخلق بنی آدم ورکب فیهم العقل والشهوة فمن غلب عقله علی شهوته فهو اعلی من الملائکة ومن غلبت شهوته علی عقله فهو ادنی من البهائم صدق النبی صلی الله علیه وسلم .)

ددې حدیث نبوی په تفسیرکې چی الله جل جلاله فرشتی پیداکړی او په دوئ کې یې خاص عقل کینبود او چارپایان یې پیداکړه او په دوئ کی یې یوائې شهوت کینبودی او انسان یې پیداکی په هغه کې یې عقل او شهوت دواړه کینبودل نودچاعقل چی پرشهوت باندی غالب سو هغه ترفرشتو هم ډیر لوړدی او دچاچی شهوت پرعقل غالب سی هغه بیاترچارپایانو هم ډیر کښته او ذلیل دی یقینا همداسی دی رسول الله ﷺ ربنتیا ویلی دی ... وهو اصدق الصادقین ﷺ

درحدیث آمد که یزدان مجید............ خلق عالم راسه گونه آفرید

په حدیث کې راغلی دی چی الله تعالی مخلوق درې قسمه پیداکړی دی

سیف لودین کتابتون

ایک گروه را جمله علم و عقل و جود .... آن فرشته آست و نداند جز سجود

یوه ډله یې په علم او پوه او عقل او مجسم سخا او مهربانی سره پیدا کړه دا فرښتو ډله ده چې پرته له سجدو یعنی دالله ﷻ له بندګی بل هیڅ کار نه پیژنی

نیست آن عنصرش حرص و هوا .... نور مطلق زنده از عشق خدا

ددوئ په ماهیت کې دحرص او نفس غوښتنې نوم او نښان نسته له نوره پیدا سوی دی دالله تعالی په عشق او مینه سره ددوئ ژوند دی .

یک گروهی دیگر از دانش تهی .... همچون حیوان از علف در فربهی

دویمه ډله هغه ده چې دعقل او پوهې څخه بیخې خالی وی لکه حیوان چې دهغه کار پرته له پیولو او چاغیدلو بل هیڅ نه وی .

او نه بیند جز که اصطبل و علف .... از شقاوت غافل ست و ز شرف

هغه له غوجلی او وښو پرته هیڅ نه وینی هغه له نیک بختی او بدبختی بیخی خبر نه دی

آن سوم هست آدمی زاده بشر .... از فرشته نیمی و نیمش ز خر

دریمه ډله هغه انسان دی چې دهغه نیمه برخه دفرشتی او نیمه برخه دخره وی

نیم خر خود مائل سفلی بود .... نیم دیگر مائل علوی بود

دانسان نیمه برخه هغه چې حیوانی وی دحیواناتو په شیر کښته خواته میلان کوی او دویمه نیمه برخه چې ملکی ده هغه بیالوړی خواته ته میلان کوی

تا کدامین غالب آید در نبرد .... زین دو گانه تا کدامین بُرد نرد

ددې دواړو برخو په خپل مینځ کې جنګ دی وبه ګوروچې اوس په دې جنګ کې ثوک بریمن کیږی او په دې ازموینه کې څوک بریالی کیږی .

عقل گر غالب شود پس شد فزون .... از ملائک این بشر در آزمون

که په دې امتحان کې عقل غښتلی سو او حیوانیت ماته وخوړه نو بیاداسړی تر فرشتو هم ډیر غوره او ښه دی ځکه نو موږی سره له حیوانی او شهوانی موانعو عقل ته ترجیح ورکړه په خلاف دملائکه ځکه ددوئ په لوړ میلان کې هیڅ مانع او خنډ نسته .

شهوت از غالب شود پس کمتر است .... از بهائم این بشر زان کمتر است

که شهوت بریالی سو نو بیاداسړی تر حیواناتو هم ډیر بد دی لکه چې الله ﷻ فرمایي :

أُولَـٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَـٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴿١٧٩﴾ آیت سورة الاعراف)

آن دو قوم آسوده از جنگ و خراب .... درین بشر با دو مخالف دو مخالف در عذاب

هغه دواړه ډلی یعنی فرشتی او حیوانات دنفس او شیطان له جګړی څخه خلاص دی مګر دادریم قسم یعنی انسان دنفس او شهوت په مخالفت او جګړه کې په یو عذاب او تکلیف کې اخته وی

سیف لودین کتابتون

دین بشر هم ز امتحان قسمت شدند............ آدمی شکل آند وسه است شدند

یاهمدغه انسا ن په اعتبار دازموینې اوامتحان سره پر درې قسمه باندی ویشلی دی لکه چی الله تعالی فرمایې : فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ (٨) وَأَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ (٩) وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ (١٠) أُولَئِكَ الْمُقَرَّبُونَ (١١) فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ (١٢)سورة الواقعه)

یک گروه مستغرق مطلق شده................ ہمچو عیسیٰ بالملک ملحق شده

یوه ډله هغه دی چی دالله ﷻ په محبت اومینه کې غرق او فنادی اودعیسی ؑ په څیر له فرشتو سره یوځای سوی دی

فائده :عیسی ؑ لکه څرنګه چی دجبرئیل ؑ په ساه پیدا سوی دی په دې وجه صورةً انسان اومعنی ملک دی دتفصیل دپاره فتوحات مکیه اوفصوص الحکم وګوری.

نقش آدم لیک معنی جبرئیل ....رسته از خشم وهوا و قال وقیل

داډله په صورت کې انسان اوپه معنی کې جبرئیل ؑ دی دشهوت اوغضب اوهررنګه خبرو څخه پاک اوبیل دی داډله له مقربینو اوسابقینو څخه ده ..

قسم دیگر باخران ملحق شدند .... خشم محض وشهوت مطلق شدند

دویمه ډله یاهغه دی چی له خرواوحیوانانو سره یوځای سوی اوسراسر له شهوت اوغضب څخه جوړسوی دی لکه الله تعالی چی فرمایې :كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُسْتَنْفِرَةٌ (٥٠)آیت المدثر سورة) أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ (١٧٩)آیت الاعراف سورة

وصف جبریلی در ایشان بود رفت.......... تنگ بود ان خانه وآن وصف رفت

جبریلی صفت له دوئ ولاړی دلوښی دتنګوالی سره هغه صفت په هغه کې پاته نه سو داودیمه ډله دچپه لاس دخاوندانو دی ..

ماندیک قسم دگر اندر جهاد.......... نیم حیوان نیم حی بار شاد

له دې درې قسموڅخه یوقسم پاته سو هغوئ عام مؤمنان دی کوموته چی الله ﷻ اصحاب المیمنة یعنی د راسته لاس خاوندان ویلی دی

کوموچی پرالله ﷻ اودهغه پررسول ﷺ باندی ایمان راوړی دی مګر تراوسه پوری ددوئ نفس مطمئن سوی نه دی ایمان یې دالله ﷻ ولوری ته راکاږی اونفس یې دخوندو نو او غوښتنوخواته رابولی نودانابلده په کشمکش کې دی کله نفس حیوانی غالب کیږی اوکله ایمان اوهدایت غالب کیږی ورځ اوشپه همدغه جنګ اومقابله روانه وی دعقل له نفس سره اودروح له جسم سره مقابله دی ،،،،، دعارف رومی داکلام موږ په کوتاه ټکو سره راوړی اوس اصل مقصد ته بیرته ورګرزو.

سیف لودین کتابتون

دسرخبرې ته بيرته ورګرزو: انسان ته چې کوم صفت دآزادۍ ورکړل سوی دی هغه دده دذات اوماهيت غوښتنه نه دی چې ددې صفت بيلوالی له ده نه راځي بلکې په صفات ملکي سره د موصوف کيدوپه وجه تر هغه وخته پوری انسان آزاددی اوکله چې د حيوانيت په صفاتوسره موصوف سي نوهغه ورکړل سوی آزادی هم له منځه ځي.

له نصوص قرآنيه ووځخه داخبره ييخی روښانه سوی چې انسان دکفر اوشرک په کولوسره دچارپای اوحيوان په حکم کی کيږی لکه چې الله تعالی فرمايي:

(إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا (۴۴) آيت الفرقان سورة) نه دی داکافران مګر دچارپايانوپه شير بلکې ترهغوئ هم ډير لارورکی دی

إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللَّهِ الَّذِينَ كَفَرُوا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (۵۵) آيت سورة الانفال)

رښتياهم بدترين حيوانات دالله ﷻ په نزد هغه دی چې الله ﷻ نه منی يعنی کافران دی.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَهُمْ (۱۲) آيت سورة محمد)

اوکافران په ديناکې ښه ژونداوښه خوندونه اخلی اودچارپايانوپه شيرناخبره اوپه ولاړه باندی اوپرلاربادی خوراکونه کوی (اللهم احفظنا من ذلک)

لکه نن صباچې ددې حيوان صفتوځناورو پرمختګ نندارہ تاسوپه خپلوسترګووينی الله تعالی چې کوم خبر ورکړی وو نن هغه په پرمخ تللی نړه کې رښتياسو بلکې په سترګو ليدل کيږی آيادنړۍ هوښياران، دا اخلاقی مجرمان، ترځناورواوچارپايانو ډيربدنه ګڼي نوکه اسلام دالله ﷻ وباغيانوته ترچارپايانوبد وايي نوآياغلط وايي؟ نولکه څنګه چې حيوانان په نيولواوښکارکولوسره دسړی ملک ګرزی دغه رنګه دالله جل جلاله باغيان اوسرکښان په بندی کولو سره دمسلمانانوملک ګرزی اوڅنګه چې په حيواناتو کې بنداوښکاردملک سبب دی دغه رنګه پر کفاروباندی غلبه اولاس بری پردوئ دملک اومريې توب پوره سبب اولامل دی.

په انسان اوحيوان کې چې کوم توپير دی هغه يوائي دعقل اوادراک پوهی په وجه دی دټولوهوښيارانوپه نظردعقل دنه شتون په وجه دحيواناتو رانيول اوپلورل فقط جائز نه بلکې غوره کاردی انسان چې کله په بی عقلی کې راګيرسی اودچاحق برباد کړی نو ډيروخت قاضی دده دخرڅولواوپلورلوحق ځنی اخلی اوډيرځله محکمه په زور هغه مالونه اوجايدادونه خرڅوی اودخلکوخپل حقوق ورته سپاری آيادا دحريت اوآزادی ختمول نه دی؟

ديوه شکمني خبری روښانه کول!

داخبره پيژندل په کاردی چې انسان ته چې آزادويل کيږی دهغه هيڅ کله دامطلب نه دی چې آزادی دانسان له لوازمو څخه دی بلکې ددې مطلب دادی چې هرانسان داسلام پر

سيف لودين کتابتون

فطرت باندی پیداکیږی ځکه فطرةً آزاددی اوکله چی اسلام نه وی نوآزادی هم ځنی اخیستل کیږی اومریې توب دهغه جرم سزادی هغه چی دفطرت خلاف دی که دلږوخت لپاره داومنل سی چی آزادی دانسان فطری حق دی نوموږداپوښتنه کوو چی داحق چاورکړی دی اوآیادالازمی حق دی ؟ چی هرڅه جرم کوه کفرکوه شرک کوه دالله ﷻ څخه سرغړونه کوه دهغه دنازل سوی قانون دجاری کولو اونافذولومخنیوی کوه دهغه وراليږل سوی پیغمبر ﷺ ته دروغجن وایه په دوئ پوری مسخری کوه اوددوئ مقابله کوه ددوئ پرمنونکوباندی ظلم اوتیری کوه لنډه داچی هرجرم اوظلم چی ته غواړی هغه کوه مګرستا دآزادی حق یووخت هم له تاڅخه نه بیلیږی ؟

پوه سه اوښه پوه سه چی ټول اسمانی دینونه اوالهی ملتونه پر دې باندی یوه خوله دی چی دکفر اوشرک وروسته دژونداو وجودحق هم نه پاته کیږی دآزادی اوحریت یادونه خوییخی مه کوه اوداسی آزادی خوپه لویو پرمخ تللیو اوجمهوری حکومتو کې هم نسته چی حکومت هم مه منه وزیران اودملک واکداران هم مه منه دحکومت قانون هم مه منه اودهغه خلاف ویناوی کوه اودقانون دنافذولومخنیوی کوه اوبیادې هم ته آزاد اوسیږی اوهیڅوک دې تانه ګیروی اونه دې پرتایوتورلګول کیږی اونه دې ستاپه ځمکه اوجایدادباندی حکومت قبضه کوی اوستادمال شتمنی هغه چی تاپه بینګ کې جمع کړی دی هغه دې هم نه کنګل کیږی کله چی ته له حکومت څخه سرغړونه کوی نو حکومت به هم هرهغه څه کوی دکوم چی ته حقدار یې دبدن غړی دانسانی ژوند له امور فطریه څخه دی مګر په حدوداوقصاص کې دبدن غړی پریکیږی اودانسان ژوند ختميږ ی اعدام کیږی په ګناه کولوسره فطری حقوق ختميږی اوترکفربیابله لویه ګناه شته ؟ ن

سیاسي مریي توب !

فرنګی انګریزی قومونه داسلامی مریې توب یادونه کوی مګر په تورات اوبایبل کې چی دمریي توب کومه مسئله ذکرسوی دهغې نوم نه اخلی اوسیاسی مریان دځان دپاره واجب اوحتمی بولی په اوسنی سیاست کې دوئ دپوره قوم اوبشپړ هیواددمریانو جوړلو لاری چاری لټوی په دې وجه دیواځی والی مریي توب ضرورت نه دی پاته سوی اونن صبا هم جمهوریت ،ضلالت اوډیموکراسي په دین کې سپین پوستوته پرترپو ستو باندی ترجیح ورکول کیږی لکه اوس چی په آیالات متحده امریکا کې دسورمخو کافرانو دپاره بیل قانون او دتورمخو کافرانودپاره بیل قانون ایښي دی (اللهم اهلکهم کمااهلکت عاداوثمود)

سیف لودین کتابتون

دمبارکوغزاګانو اوسریو لړۍ

دالله ﷻ په لاره کې دصحابه کرام ؓ بې مثاله قربانۍ اوسربښندنې اودالله ﷻ دباغیانو اوسرغړونکو دپیښو یوباب یعني دروازه درته پرانیزو:

دجهاد حکم نازل سورسول الله ﷺ دجهاد پیل وکړ شاوخواته یې فوځونه لیږلې په کوم جهادکې چې رسول الله ﷺ په خپله ګډون کړی دی هغه ته دسیرت دعلماء په اصطلاح غزوه وایې اوپه کوم فوځ کې چې رسول الله ﷺ په خپله ګډونه نه دی کړی هغه ته بیاسریه اوبَعث وایې

دغزاګانو شمیر څودی ؟

موسی بن عقبه ، محمدبن اسحق ، واقدی ، ابن سعد ، ابن جوزی ، دمیاطی ، عراقی دغزاګانوشمیر اووه ویشت ښودلی دی اودسعیدبن المسیب (١) څخه څلرویشت اوله جابربن عبدالله (٢) څخه یوویشت اوله زیدبن ارقم (٣) څخه دنولس شمیرروایت سوی دی علامه سهیلي وایې داختلاف وجه دادی چې بعض علماء څوغزاګانی دنژدې والی اوپه یوه سفرکې دپیښیدوپه وجه یوه ګڼلې ده په دې وجه ددوئ په نزددغزاګانوشمیر کم سوی دی اوکیدای سی چې بعضوته دیوشمیرغزاګانوخبر نه وی رسیدلی (۴)

دسریو یاټولګي لیږلوشمیر

دغه رنګه دسریو په شمیرکې هم اختلاف دی له ابن سعدڅخه څلویښت اوله ابن عبدالبر څخه پنځه دیرش اوله محمدبن اسحق څخه اته دیرش اوله واقدی څخه اته څلویښت اوله ابن جوزی څخه شپږپنځوس شمیر نقل سوی دی دتفصیل دپاره زرقانی جلد ١، صفحه ٣٨٨

لومړی سریه سیدالشهداء حضرت حمزه رضي الله تعالي عنه

رسول الله ﷺ ترټولو مخکې ترهجرت اووه ٧ میاشتې وروسته دروژې په مبارکه میاشت کې دهجرت په لومړی کال کې یادربیع الاول میاشت دهجرت په دویم ٢ کال کې پر اختلا ف دروایاتو (۵) ده دیریش مهاجرینویوه ټولۍ د حضرت حمزه ؓ په مشرۍ کې سیف البحر سیمې ته ولیږله ددې دپاره چې دقریشوددرې سوه ٣٠٠ سپرلیو یوه قافله دابوجهل په مشرۍ له شام څخه مکې مکرمې ته بیرته راستنیده رسول الله ﷺ ورته وویل هغه قافله

(١)رواه عبدالرزاق بسندصحیح)

(٢)رواه ابویعلی باسناد صحیح

(٣)رواه البخاری ومسلم والترمذی)

(۴) فتح الباری صفحه ٢١٨ زرقانی جلد١ ، صفحه ٣٨٨)

(۵) یوشمیرخلک وایې چې په دې سریه کې څه انصارهم وو ابن سعدوایې صحیح خبره داده چې دانصارو څخه هیڅوک هم نه وو دبدرترغزامخکې رسول الله ﷺ چې څومره سریه لیږلې دی په هغوکې یو انصاری هم نه دی تللی ځکه انصاروپه مدینه منوره کې داوسیدواودساتنې وعده کړې وه دله مدینې دباندې یې دوتلواودجنګ وعده نه وه کړې په دې وجه نبی کریم ﷺ دبدرپه ورځ انصاروته په ونیاکې وویل چې ستاسوڅنګه خوښه ده (طبقات ابن سعد جلد٢، صفحه ٢قسم اول زرقانی جلد١، صفحه ٢٨٠)

سیف لودین کتابتون

لاندی کې ترهجرت وروسته دالومړی سریه وه په دې سریه کې یوازې مهاجرين ؓ وو له انصارو ؓ څخه هیڅوک هم نه وو کله چې حمزه ؓ سیف البحرت ورسیدی قافله یې لاندی کړه اودواړه ډلی سره مخامخ سوی اودجګړې دپاره صفونه وتړل سو په همدې وخت مجدی بن عمرو جهنی منیځ ګړیتوب وکړ اوجنګ پاته سو ابوجهل قافله مکی ته روانه کړه اوحمزه ؓ له خپلو ملګرو سره مدینې منورې ته بیرته راستون سو (۱)

دویمه سریه د عبیده بن الحارث رضي الله عنه سریه

ترهجرت اته میاشتې وروسته دکوچنی اخترمیاشت دهجرت لومړئ کال وورسول الله ﷺ دمهاجرين ؓ شپیته ۶۰ یااتیا۸۰ تنه سپروپرتولګی باندی عبیدة بن الحارث ؓ آمیر وټاکی اوددابغ په نامه ځای ته یې ولیږل په دې سریه کې هیڅ یوه انصاری ؓ برخه نه درلوده دوئ هلته ورسیدل دقریشوده دوه سوه ۲۰۰ سپرو له ډلی سره مخامخ سو مګر جنګ ونه سو دمشرکینو دډلی مشر ابوسفیان بن حرب (۲) یاعکرمه بن ابی جهل یامکرز بن حفص دروایاتو داختلاف پربنیاد دمشرکینو دټولی مشران وو ،مقداد بن عمرو اوعتبه بن غزوان دوئ دوه مخکې لامسلمانان سوی وو مګر دقریشو په لاس کې وو له دې کبله دوئ هجرت نه سو کولای دوئ دقریشو له قافلی سره ددې دپاره ملګری سوی وو چی که وخت وموموی نوله مسلمانانو سره به یوځای کیږی کله چی دمسلمانانو اوقریشو مقابله سوه دوئ ته وخت په لاس ورغلی سمدستی دواړه دقریشو له ډلی راووتل اوله مسلمانانو سره یوځا سو (۳) دحمزه ؓ اوعبیده ؓ سریه ډیری سره نژدی وی په دې وجه دعلماء اختلاف دی یوشمیر دحمزه ؓ سریه مخکې بولی اونوربیا دعبیده ؓ سریه مخکې بولی والله اعلم بحقیقة الحال اویوشمیرخلک بیاوایې چی دوئ دواړه پریوه ځای لیږل سوی دی په دې وجه اشتباه پیښه سوی څوک دحمزه ؓ سریه مخکې بولی اوڅوک دعبیده ؓ سریه مخکې بولی اوهریوپه خپل خپل ځای صحیح دی .

دریمه دسعدبن ابي وقاص رضي الله عنه سریه

دهجرت په لومړي کال دذی القعدی په میاشت کې دسعدبن وقاص په مشری یوګروف خَوّار ته ولیږل سو خوار جحفی ته نژدی یومیدان دی غدیرخم هم دې ځای ته نژدی دی دوئ به دورځی پټیدل اودشپی به یې تګ کوی کله چی ورسیدل دوئ خبرسو چی دقریشو قافله له دې ځایه تللی ده صحابه کرام ؓ بیرته مدینی ته راستانه سو (۴)

---

(۱) طبقات ابن سعد جلد ۳، صفحه ۲]

(۲) ابوسفیان بن حرب عکرمه بن ابی جهل دمکی په فتح کې په اسلام مشرف سو مکرزبن حفص چاپه صحابهووکې نه دی یادکړی یوازې ابن حبان په کتاب الثقات کې دومره ویلی دی چی یقال له صحبة) ویل کیږی چی مکرزبن حفص صحابی دی (زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۹۱)

(۳) زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۹۱)

(۴) زادالمعاد جلد ۲، صفحه ۸۳)

سیف لودین کتابتون

دواقدی اومحمدبن سعدپه نزد دادرې واړه سریه دهجرت په لومړی کال لیږل سوی دی اومحمد بن اسحق وایې چې دادرې سریه دهجرت په دویم کال دابواء له غزا وروسته لیږل سوی دی (۱) اوابن هشام هم په خپل سیرت کې داخبره غوره کړی ده ابن هشام لومړۍ دودان غزاراوړی اوبیایې دعبیده بن حارث ﷺ سریه اوبیادحمزه ﷺ سریه راوړی اوماکمزوری بیا دحافظ ابن قیم اوعلامه قسطلاني اوعلامه زرقاني پیروی کړی.

دابواء لومړۍ غزا (۲)

دالومړنی غزاده اوپه دې غزاکې رسول الله ﷺ خپله تللی دی اوتبوک بیاآخری غزادی چې نبی کریم ﷺ پکښې تللی دی .دهجرت دویم کال دصفری دمیاشتی په پیل کې شپیته تنه مهاجرین ﷺ چې په دوئ کې یوانصاری هم نه وو نبی کریم ﷺ له ځان سره ملګری کړه اودقریشودقافلی اوپربنوضمره باندی دحملی کولولپاره دابواء سیمی ته روان سو سعد بن عباده ﷺ یې په مدینه منوره کې خپل خلیفه وټاکی په دې غزاکی بیرغ دمره ﷺ په لاس کې وو کله چې رسول الله ﷺ ابواء سیمی ته ورسیدی نودقریشوقافله تللی وه دبنی ضمره قبیلی مشر مخشی بن عمرو سوله وکړه اوصحابه کرام ﷺ بیرته راستانه سو دسولی شرائط په دې ډول وو :بنوضمره به له مسلمانانوسره جګړه نه کوی اونه به د مسلمانانوله دښمنانوسره مرسته کوی اونه به مسلمانانوته څه چل ورکوی اودارتیا په وخت کې به دمسلمانانو مرسته اوکومک کوی (۳) ودې غزاته غزاودان هم وایې :ابواءاوودان دوه ځایونه دی چې یوله بل سره نژدی دی ددوئ ترمینځ یوائي دشپږو میلوپه اندازه لیری والی شته له دې غزاڅخه رسول الله ﷺ پنځلس ورځی وروسته بیرته پرته له جنګ مدینی منوری ته راستون سو اوپه دې سفر کې جګړه نه وسوه ،(۴)

دویمه :دبواط غزا (۵)

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دوحی په ذریعه دامعلومه سوه چې دقریشویوه تجارتی قافله مکی ته زوانه ده په دې وجه رسول الله ﷺ دهجرت په دویم کال دلومړۍ خوریادویمی خورپه میاشت کې له دوه ۲۰۰ سوه سپروسره یوځای روان سو اودقریشوپر دې قافله باندی دحملی کولودپاره دبواط خواته روان سو اوسائب بن مظعون ﷺ چې له سابقین اولین اودحبشی له مهاجرینوڅخه دی دمدینی نائب والی وټاکی دقریشوپه قافله کې یونیم سل اوښان اودقافلی سل ساتونکی دامیه بن خلف په مشری،وو کله چې مسلمانان بواط ته ورسیدل نبی کریم ﷺ خبرسو چې قافله تللی ده په دې وجه رسول الله ﷺ پرته له جنګ جګړی څخه مدینی منوری ته بیرته راستون سو (۶)

---

(۱) ابن الاثیر جلد۱،صفحه ۴۱]

(۲)الابواء بفتح الهمزة وسكون الموحدة وبالمدقرية من عمل الفرح بينها وبين الجحفة من جهة المدينة ثلاثة وعشرون ميلا ، فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۱۷ کتاب المغازی ،،

(۳)عیون الاثر جلد ۲، صفحه ۲۲۶ وفتح الباری جلد ۷ .صفحه ۳۱۷)

(۴)طبقات ابن سعد جلد ۲، صفحه ۳۰،،

(۵) بواط :دباء په زورسره اوپه پیښ هم ویل کیږی دادیوغره نوم دی چې ینبع ته نژدی دی له مدینی تقریبازیات وکم اته څلویښت میله لیری دی ،، زرقانی ،، (۶) زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۹۲،، عیون الاثر،،

دریمه : دعشیریه غزا

دهجرت دویم کال ددریمی خورپه میاشت کې رسول الله ﷺ له دوه سوه ۲۰۰ مهاجرین ﷺ سره یوځای دقریشوپرقافله دحملی کولودپاره دعشیریه ولوری ته روان سو عشیره وینبُعْ ته نژدی دی اوپه مدینه منوره کې یې ابوسلمه بن عبدالاسد ﷺ خلیفه وټاکی اود سپرلۍ دپاره دیرش اوښان ورسره وو چی پرهغوئ به صحابه کرام ﷺ په نوبت سپریدل درسول الله ﷺ تررسیدو څو ورځی دمخه قافله له دې ځایه تللی وه رسول الله ﷺ دجمادی الاولی میاشتی پاته شپی ترځلورمی خورپوری په عشیره سیمه کې تیری کړی اوله بنی مدلج سره یې پریکړه لیک ولیکي اوپرته له جنګ اوجګړی څخه مدینی ته راستون سو دپریکړه لیک مادی داسی وی بسم الله الرحمن الرحیم هذا کتاب من محمد رسول الله لبنی ضمرة بانهم آمنون علی امرلهم وانفسهم وان لهم النصر علی من رامهم ان لایحاربوا فی دین الله ما بل بحر صوفة وان النبی اذ دعاهم لنصره اجابوه علیهم بذلک ذمة الله وذمة رسوله ولهم النصر علی من بروا تقی (۱)

شروع کوم په نامه دالله ﷻ چی ډیرمهربان اوبښونکي ذات دی داپریکړه دمحمدرسول الله صلی الله علیه وسلم له لوری دبنی ضمره دپاره ددوئ ځان اومال هرڅه به خوندی وی اوڅوک چی دبنوضمره سره جنګ کوی نودهغه په مقابله کې به دبنوضمره مرسته کیږی په دې شرط چی بنوضمره به دالله ﷻ ددین هیڅ مخنیوی نه کوی ترڅوچی دصوف سیند لوندی وی یعنی داشرط دهمیشه دپاره دی نبی کریم ﷺ چی کله دوئ دمرستی دپاره راوغواړی نودوئ به حاضریږی داپه دوئ باندی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ وعده ده اوپه دوئ کې چی څوک نیک اوپرهیزګاردی دهغه سره به مرسته کیږی .

دعلماء په دې کې اختلاف دی چی ترټولومخکې کومه غزا پیښه سوی محمدبن اسحق اویوجماعت وایې چی ترټولومخکی دابواء غزاده بیا بواط اوبیا عشیره (۲) اوداترتیب امام بخاری هم په خپل صحیح بخاری کې کړی دی اوهمداترتیب حافظ عسقلانی په شرح دبخاری کې غوره کړی دی اویوشمیرعلماء بیاوبل لوری ته تللی دی دوئ وایې چی لومړی غزا عشیره دی دغه رنګه دسیرت دعلماء په دې کې اختلاف دی چی اول یادی سوی دی درې سریه یعنی دحمزه ﷺ سریه اودعبیده بن الحارث ﷺ سریه اودسعد ﷺ سریه دادرې واړه دهجرت په لومړی کال دابواء ترغزاوروسته پیښې سوی دی ډیروعلماء بیادادرې سریه دهجرت په لومړی کال دابواء ترغزامخکې یادی کړی دی اوددوئ مطلب دادی چی دجهادله اجازی وروسته سمدستی دغزاګانوپیل په سریه سوی دی .. اوحافظ ابن القیم په زادالمعاد کې اوعلامه قسطلانی په مواهب کې او

(۱) روض الانف جلد۲، صفحه ۵۸ ،، زرقانی جلد۱، صفحه ۳۹۶)
(۲) تاریخ الخمیس جلد۱، صفحه ۴۰۱ ،،

سیف لودین کتابتون

علامه زرقانی په شرح مواهب کې لومړنۍ یادی سوی درې سریه یعنی سریه حمزه ؓ اوسریه عبیده ؓ اوسریه سعد ؓ دهجرت دلومړي کال په پیښوکې شمیرکړی دی اودا ناچیز هم دسریو اوغزاګانو په ترتیب کې ډیر دقسطلانی اوزرقانی پرلاری تللی دی او د محمدبن اسحق رایه دادی چی دغزاګانوپیل له ابواء څخه دی اوترهغه وروسته دحمزه ؓ سریه اودعبیده ؓ سریه لیږل سوی دی لکه څنګه چی رسول الله ﷺ ددرې واړه سریو دروانیدو حکم یوځای ورکړی دی ځکه راویان په دې کې حیران دی چی کومه یوه اوله سریه دی ابن هشام په خپل سیرت کې همداترتیب غوره کړی دی چی لومړۍ یې غزوه ودان راوړی اوبیایې دعبیده بن الحارث ؓ اوبیادحمزه ؓ او وروسته یې غزوه بواط اوبیایې غزوه عشیره یادی کړی دی اوداټولی سریه اوغزاګانی یې دهجرت د دویم ۲ کال په پیښوکې یادی کړی دی

څلورمه : دبدر لومړۍ وړه غزا یاد سفوان غزا!

دعشیره دغزاله راستنیدو روسته تقریباً لس ورځی رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې پاته سوپه همدې ورځوکې کرز بن جابرفهری دمدینی په څرځای باندی دشپی برید وکړ اودمدینی دخلکواوښان پسونه بزی یې وتښتول رسول الله صلی الله علیه وسلم چی کله داخبرواوریدی نوسمدستی دهغه په لټون پسی تر صفوان نومی ځایه پوری ولاړی دابدرته نژدی یوځای دی مګر کرزبن جابرفهری درسول الله ﷺ تررسیدومخکې تللی وو نبی کریم ﷺ بیرته مدینی ته راستون سو سفوان بدرته نژدی یوځای دی اورسول الله ﷺ دهغه په لاندی کولوکې تربدره پوری ولاړی له دې کبله ودې غزاته غزوه بدر اولی وایې اودسفوان غزاهم ورته وایې دې غزاته دتلوپه وخت کې زیدبن حارثه ؓ په مدینه کې خلیفه وټاکل سو (۱)

کرزبن جابر دقریشو له مشرانواوسردارانوڅخه وو وروسته بیایه اسلام مشرف سو رسول الله ﷺ چی کله دعرنیین په لاندی کولوکې دشل تنه سپرویوه ډله لیږلی وه کرز بن جابر ؓ دهغې ډلی مشراوآمیروودمکی په فتح کې شهیدسوی دی (۲)

دعبدالله بن جحش رضی الله عنه سریه

دسفوان غزاله راستنیدووروسته دهجرت دویم کال درجب په میاشت کې رسول الله ﷺ عبدالله بن جحش ؓ دنخله (۳) په نامه ځای ته ولیږی اویوولس مهاجرین ؓ یې له هغه سره کړل چی ددوئ نمونه په لاندی ډول دی (۱) ابوحذیفه بن عتبه ؓ (۲) عکاشه بن محصن ؓ (۳) عتبه بن غزوان ؓ (۴) سعد بن ابی وقاص ؓ (۵) عامربن ربیعه ؓ (۶) واقدبن عبدالله ؓ (۷) خالدبن بکیر ؓ (۸) سهیل بن بیضاء ؓ (۹) عامربن ایاس ؓ (۱۰) مقدادبن عمرو ؓ (۱۱) صفوان بن بیضاء ؓ

---

(۱) زرقانی جلد۱، صفحه ۳۹۶،،، عیون الاثر جلد۱، صفحه ۲۲۷،، (۲) الاصابه جلد ۳، صفحه ۲۹،، (۳) نخله : دمکی اوطائف ترمینځ یوځای دی دمکی څخه دیوی ورځی اوشپی مزل دی داهغه ځای دی چی پیریانانوله نبی کریم ﷺ څخه قرآن اوریدلی وو ، زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۹۷)

سیف لودین کتابتون

دایوولس تنه مهاجرین دعبدالله بن جحش ؓ ملګري وو اودولسم په خپله دسریه امیر عبدالله بن جحش ؓ وو دسعدبن ابی وقاص ؓ څخه روایت سوی دی چی رسول الله ﷺ موږیوی سریه ته ولیږلو اودایې وفرمایل چی زه به پرتاسوباندی داسی سړی امیر کړم چی هغه به ترتاسوټولوپه ډیره لوږه اوتنده باندی صبرناک وی تردئ وینا وروسته یې عبدالله بن جحش ؓ زموږ امیر وټاکی داپه اسلام کې لومړنی اواولنی آمیروو (۱)

په معجم طبرانی کې په حسن سندسره له جندب بجلی ؓ څخه روایت سوی دی چی رسول الله ﷺ چی کله عبدالله بن جحش ؓ لیږی نویولیک یې ورکړ اودایې ورته وفرمایل چی ترڅوپوری چی دی دوې ورځی پرلپسی مزل نه وی کړی ترهغه وخته به دالیک نه ګوری تردوو ورځومزل وروسته دالیک وګوره اوپه هغه کې چی څه لیکل سوی دی په هغه باندی عمل وکوه اودخپلو ملګروڅخه څوک مه مجبوره کوه کله چی دې مبارکانو ددوو ورځولاره ووهله نوعبدالله بن جحش ؓ درسول الله ﷺ لیک پرانیستی وې لوستی نوپه هغه کې داسی لیکل سوی وو ، چی سیده ولاړسی اوترهغه ځایه ورسیږی چی دمکې اوطائف ترمینځ دنخله په نامه دی هلته کښته سی اودقریشو انتظاروکوی اوددوئ په حالاتوځان خبرکړی عبدالله بن جحش ؓ هغه لیک ولوستی اوداسی وفرمایل : سمعاً وطاعةً مادرسول الله ﷺ خبره واوریده اومنم یې اونوروملګروته یې هم دهغه لیک مضمون ولوستی اودایې ورته وویل چی زه تاسونه مجبوره وم دچاکه شهادت خوښ وی هغه دې له ماسره ملګری سی اوکه نه زه اجازه ورکوم خوټولوملګروپه یوه خوله دعبدالله بن جحش ؓ ملګرتیا غوره کړه اوله ده سره ملګری سو په لاره کې دسعد ؓ اوعتبه ؓ اوښ ورک سودوئ دواړه داوښ په لټون کې شاته پاته سو اوله دوئ څخه نادرکه سو اونورپاته ملګری نخله ته ورسیدل اوهلته میشت سو (فتح الباری جلد۱، صفحه ۱۴۳ باب مایذکرفی المناوله وکتاب اهل العلم الی البدان ۱۲ وعیون الاثر وزرقانی جلد۱، صفحه ۳۹۷)

په اسلام کې لومړی غنیمت

دقریشویوه تجارتی قافله له شام څخه مکی مکرمی ته ستنیده دغه ورځ درجب الحرام دمیاشت آخری ورځ وه په دې میاشت کې جنګ اوجګړی کول حرام وو (۲) دصحابه کرام

(۱) زرقانی جلد۱، صفحه ۳۹۷،،

(۲) دابراهیم ؑ په شریعت کې په څلورو میاشتوکی جنګ اوجګړی کول حرام وو ، ذی القعده ، ذی الحجة ، محرم الحرام ، اورجب المرجب ، دذی الحجه میاښت دحج میاشت ده دامیاشت اوتردې میاشت یوه میاشت مخکی اویوه میاشت وروسته په دې وجه حرام سوه ددې دپاره چی دلیری ځای حاجیان په امن سره ولاړسی اوراسی اوپه امن سره حج وکوی اودرجب په میاشت کې به خلک دعمری دپاره راتلل داهغه خلک ووچی اکثربه دلس یاپنځه لس ورځوپه مزله رسیدل نوځکه ددوئ دپاره یوه پوره میاشت حرام وګرزیده اودغه رنګه دغلی اومیوه جاتوقافلی به هم په دې میاشت کې راتلی په دې وجه دامیاشت حرام سوی ددې دپاره چی دخلکو ځانونه اومالونه له لوټ مار څخه خوندی سی لکه چی الله تعالی فرمایي : جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ (۹۷) آیت سورة المائدة) دابراهیم ؑ له وخته بیاداسلام ترپیل پوری داحکم وو ترهغه وخته چی په آیت سیف سره داحکم منسوخ سو اوپه دې میاشتوکې دجنګ اجازه ورکړل سوه مګرسره له اجازی دجهاد اوقتال اوس هم ددې میاشتوعظمت اوعزت پاته دی لکه چی الله تعالی فرمایي : {مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنْفُسَكُمْ } [التوبة:۳۶] .یعنی څلورمیاشتی حرام دی په دې کې په خپلو ځانوظلم مه کوی یعنی دالله ﷻ نافرمانی مه کوی عطاء فرمایي چی په دې میاشتوکې دجهاداوجنګ دحرامیدو حکم اوس هم پاته دی منسوخ نه دی ،، روض الانف جلد ۲، صفحه ۶۰،،،

سیف لودین کتابتون

رضي الله عنه خيال وو چې نن د شعبان لومړۍ ورځ ده پر قافله یې حمله وکړه ، واقد بن عبد الله رضي الله عنه د قافلې مشر عمرو بن الحضرمي په غشي وويشتی او په هغه غشي سره هغه مړ سو د هغه په مرګ سره د قافلې خلک وارخطا سوا و وتښتېدل او مسلمانانو د قافلې پر ټول مال او توکو باندې ولکه وکړه او عثمان بن عبد الله او حکم بن کيسان يې بنديان کړه تردې وخته پورې د غنيمت د ويش په اړه هيڅ حکم نه وو نازل سوی خو عبد الله بن جحش رضي الله عنه په خپل اجتهاد سره ځلور برخې پر مجاهدينو وويشلې او پاته پنځمه برخه يې د رسول الله ﷺ دپاره پرېښوده کله چې مدينې ته ورسيدل او رسول الله ﷺ ته يې دهغه خبرور کړ رسول الله ﷺ وفرمايل : ما تاسو ته د حرام په مياشت کې د جنګ کولو حکم نه وو کړی خو تر څو پورې چې وحی نه وې نازله سوې تر هغه وخته پورې غنيمت او بنديان خوندي وساتئ په دې باندې عبد الله بن جحش رضي الله عنه او دهغه ملګرې ډېر خفه او پښيمانه سو ځکه له بلې خوا مشر کينو او يهودو خبيثانو داډنډوره پيل کړې وه چې محمد ﷺ او دهغه ملګرې د حرام په مياشت کې جنګ او جګړې روا بولي مجاهدين رضي الله عنهم ډير خفه او غمجن له دې کبله سو چې زمونږ له لاسه مسلمانانو ته دومره لوئ مشکل پيښ سو او د خلکو خولې ورخلاص سوې :

په همدې وخت کې دا آيت نازل سو : يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ أَكْبَرُ عِنْدَ اللَّهِ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّى يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا (٢١٧) آيت سورة البقرة)

ستاڅخه په بزرګو مياشتو کې د جنګ په اړه دوئ پوښتنه کوی ته په ځواب کې ورته ووايه چې بيشکه په بزرګه مياشت کې قصداً جنګ کول لويه ګناه ده مګر د الله عزوجل د لارې څخه څوک منع کول او د الله عزوجل نه منل او د مسجد حرام څخه منع کول او اهل حرم له حرم څخه ايستل د الله جل جلاله په نزد دا ګناه تر ټولو ګناهو ډيره سخته ګناه ده او د کفر او شرک فتنه تردې هم ډېزيات لوی جرم دی او دا کافران تل له تاسو سره جنګ کوی ددې دپاره چې تاسو له خپل دين څخه واړوی که د دوئ وس ورسيږی .

لنډه خبر دادی چې د اشتباه او التباس په ډول په بزرګه مياشت کې د جنګ او جګړې پيښيدل ډير غټ شئ نه دی خو د کفر او شرک فتنه او مسلمانان له مسجد حرام څخه په ښکاره منع کول يوه لويه فتنه دی چې تردې لوی جرم بل نشته ددې آيت شريف له نازليدو وروسته رسول الله ﷺ پنځمه برخه د غنيمت قبوله کړه او پاته غنيمت يې پر مجاهدينو وويشی عبد الله بن جحش رضي الله عنه او دهغه ملګرو چې دا آيت واوريدی دومره خوشاله سو چې په جامو کې نه ځاييدل تردې وروسته د عبد الله بن جحش رضي الله عنه او دهغه د ملګرو د ثواب اميد پيدا سو دوئ وپوښتل چې يا رسول الله ﷺ آيا موږ پر دې غزا باندې د ثواب اميد کولای سو په دې اړه دا آيت نازل سو :

سيف لودين کتابتون

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللَّهِ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ (۲۱۸) آیت سورة البقرة) کوموخلکوچې ایمان راوړی اوهجرت یې کړی اودالله ﷻ په لاره کې یې جهاد کړی داسی خلق یقیناً دالله ﷻ د رحمت امیدکولای سی اوولی نه الله ﷻ خوډیر ښښونکی اومهربان دی.

داپه اسلام کې لومړنۍ غنیمت وو اوعمرو بن حضرمی لومړۍ مشرک وو چې دمسلمانانو په لاس ووژل سو قریشو دعثمان بن عبدالله اوحکم بن کیسان فدیه راولیږله رسول الله ﷺ وفرمایل چې ترڅوپوری زمادوه ملګری سعد رضی الله عنه اوعتبه رضی الله عنه نه وی راغلی ترهغه وخته ستاسوبندیان نه پریږدم ځکه له ماسره دااندیښنه ده چې تاسوهغه قتل نه کړی که تاسو زماملګری ووژل نوزه به هم ستاسو خلک ووژنم.

یوڅوورځی وروسته سعد رضی الله عنه اوعتبه رضی الله عنه راغلو رسول الله ﷺ فدیه قبوله کړه عثمان او حکم یې پریښودل عثمان خوترآزادیدووروسته سمدستی مکی ته ولاړی اوپه مکه کې پرکفرمړسو اوحکم اوکیسان مسلمانان سو اوپه مدینه کې پاته سو وروسته بیا دبیرمعونه په غزاکې شهیدان سو (سیرة ابن هشام جلد ۲، صفحه ۷۰ زرقانی جلد ۱، صفحه ۳۹۷)

اوپه دې اړه عبدالله بن جحش رضی الله عنه داشعرونه وویل ::

تَعُدُّونَ قَتْلًا فِي الْحَرَامِ عَظِيمَةً .... وَأَعْظَمُ مِنْهُ لَوْ يَرَى الرشد راشدُ

صدودُكُمْ عَمَّا يقول مُحَمَّدُ .... وَكُفْرٌ به واللهُ رَاءٍ و شاهدُ

تاسوپه بزرګ میاشت یعنی رجب کې جنګ کول لوی شئ ګڼی اوسره له دی محمد ﷺ چې څه وایې دهغه څخه مخ اړوی اوپه هغه سره کفرکوی، همداترډېر لوی شئ دی آرمان چې لږپوه سی لږ خیال اوفکروکوی اوالله ﷻ ښه لیدونکی اوحاضر دی

واخراجكم من مسجد الله أَهْلَهُ .... لِئَلا يُرَى فِي الْبَيْتِ لِلهِ ساجد

اوستاسودالله ﷻ دکورڅخه دالله ﷻ دوستان ایستل ددې دپاره دی چې الله ﷻ ته سجده کونکی ونه لیدل سی داهم په بزګه میاشت کې ترجنګ کولوډیره لویه ګناه ده.

فانا وان عَيَّرْ تُمُونَا بِقَتْلِهِ .... وَأَرْجَفَ بالاسلام باغٍ و حاسد

تاسوکه څه هم موږ ته په دې جنګ باندی پیغور راکوی اوعیب یې ګڼی اوکینه ګرخلک داسلام په اړه چې هرڅومره دروغجنی خبری خپری کړی مګر موږ ته هیڅ پروانه په راځی

سَقَيْنَا مِنِ ابْنِ الحضرمی رِمَاحَنَا .... بِنَخْلَةَ لَمَّا اوقد الحربَ وَاقِدُ

دما وابن عبدالله عثمان بيننا .... ينازعه غل من القيد عَانِد(۱)

بیشکه موږ دعمروبن الحضرمی له وینوپه نخله کې خپلی نیزی اوبه کی کله چې واقدبن عبدالله رضی الله عنه دجنګ اور بل کړ اوعثمان بن عبدالله زموږ په مینځ کې بندی وو چې کړه اوزنځیرونه یې ځان ته راکښل..

(۱) العاند المائل یعنی یمیل فیمیله ویجذبه سیرة ابن هشام جلد ۲، صفحه ۹ وحسن الصحابه جلد ۱ صفحه ۳۰۳)

سیف لودین کتابتون

پنځمه : دبدر لویه غزا دهجرت دویم کال دروژې مبارکه میاشت (۱)

داغزاداسلام په غزاګانو ترټولو لویه غزایادیږي ځکه داسلام دعزت اودبدبې اودغه رنګ دکفر اوشرک دذلت اورسوایۍ پیل هم له همدې غزاڅخه کیږي اودالله ﷻ په فضل سره اسلام ته پرته له ښکاره اومادي اسبابو یواځې دغیب په کومک اومرسته قوت حاصل سو اودکفرپرسربانډې داسې سخت ګذار ولګیدی چې دکفر ددماغ هډوکي زره زره سو دبدرمیدان تراوسه لادغه پیښې شاهددی اوپه دې وجه الله تعالی دې ورځې ته په قرآن کریم کې يَوْمَ الْفُرْقَانِ وفرمایل یعنی دحق اوباطل دبیلوالی ورځ بلکې دغه میاشت فرقان وه یعنی رمضان المبارک میاشت وه چې په دغې میاشتې الله تعالی قرآن مجید نازل کړی دی اوپه دې سره یې دحق اوباطل دهدایت اوګمراهي بیلوالی ښکاره کړی دی اوبیاپه همدې میاشت کې یې روژه نیول فرض کړی دی ددې دپاره چې ددوستانو اومخلصینو عاشقانو اومینانو ازموینه واخلي چې څوک دغه سره ربنتینې مینه لري چې دسپیدوله راختلو دلمرترلویدلو پورې دهغه درضا دپاره په سخته ګرمۍ کې تکلیف پرځان یوسي اوروژه سرته ورسوي اوڅوک دروغجن دي چې دخپلې خیټې اوکولمو مریان دي لنډه داچې دامیاشت دفرقان میاشت دی په دې کې په ډیروو جهو سره دمخلصینو اومنافقینو فرق ښکاره کیږي .

دبدر غزادقصې پیل

دروژې مبارکې په سرکې رسول الله ﷺ ته داخبرورسیدی چې ابوسفیان دقریشو تجارتي قافله له شامه بیرته راستنوي چې له ډیرو مالو اوتوکو څخه ډکه ده ، رسول الله صحابه کرام رضي الله عنهم راټول کړه اددې خبرې ورکړ اووې فرمایل چې دادقریشو تجارتي قافله دی او له ډیروسامانو څخه ډکه ده تاسوددې وخواته ووزئ کیدای سي چې الله تعالی تاسوته داقافله په غنیمت کې درکړي ..

څنګه چې دجنګ اوجګړې اوقتال وهم اوګمان هم نه وو په دې وجه دوئ پرته له څه تیاری ووتل ابوسفیان خوله مخکې لاندیښمن وو کله چې حجاز ته ورسیدی نوله هرلاروی اومسافرڅخه به یې درسول الله ﷺ دحالاتو اوخبرو پوښتنه کوله ترڅو چې بعض مسافرو هغه ته داخبرورکړچې محمد ﷺ خپلو ملګروته دقافلې دنیولو حکم کړی دی ؟

ابوسفیان دخبرې په اوریدو سره سمدستي ضمضم غفاري ته مزدوري ورکړه اومکې ته یې ولیږی ورته وې ویل چې قریشوته خبرورکړه چې څومره ژر کیدای سي دخپلې قافلې

---

(۱) بدردیو ځای نوم دی بدرله مدینې منورې څخه څلور مزل او۲۸ فرسخه لیرې دی یعنی تقریباً اتیا۸۰ میله ځمکه ده بدرځکه بدربولی دامنسوب دی وبدربن یخلدبن نضربن کنانه یابدربن الحارث ته منسوب دی چې ددې ځای جوړونکی وو اویوشمیربیاوایې چې بدردیو کوهي نوم دی دکوهي په نامه سره داعلاقه مشهوره سوه ، زرقاني جلد۱، صفحه ۴۰۶،،

سیف لودین کتابتون

دساتلو اودخپلوشتمینو دخوندی کولوکوشش وکوی محمد ﷺ له خپلوملګروسره دقافلی دپاره (۱) راوتلی دی.

کعب بن مالک رضی الله عنه فرمایي : لَمْ أَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا إِلَّا فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ غَيْرَ أَنِّي تَخَلَّفْتُ عَنْ غَزْوَةِ بَدْرٍ وَلَمْ يُعَاتَبْ أَحَدٌ تَخَلَّفَ عَنْهَا إِنَّمَا خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدُ عِيرَ قُرَيْشٍ حَتَّى جَمَعَ اللهُ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ عَدُوِّهِمْ عَلَى غَيْرِ مِيعَادٍ (صحیح بخاری)

زه په هیڅ یوه غزاکې چې رسول الله ﷺ حضوردرلودی نه یم پاته سوی مګر دتبوک له غزاپرته دبدرپه غزاکی هم پاته سوم مګر دبدر دغزا پرپاته کیدونکوباندی هیڅ ملامتیا نه وه ځکه رسول الله ﷺ یواځی دقریشودقافلی په اراده وتلی وو ناڅاپه پرته له ارادی او قصد الله تعالی مسلمانان ددوئ له دښمنانوسره مخامخ کړه.

کعب بن مالک رضی الله عنه دتبوک غزا اودبدر غزا په بیلابیلو حروف سره بیلوی اوپه یوه حرف سره یې نه بیلوی ددواړودپاره یې ونه ویل چی (الاّفی غزوة تبوک وبدر) بلکې دتبوک دییلوا لی دپاره یې دالاّحرف اودبدردبیلوالی دپاره یې دغَیْرُحرف استعمال کی اوداسی یې ویل (الاّفی غزوة تبوک غیرانی اتخلف عن غزوة بدر) اودواړه یې په یوه توری بیل نه کړله ځکه دواړه ځله پاته والی سره بیل دی یوشان نه دی ځکه دتبوک دغزاپرپاته کیدونکوباندی ملامتیاوویل سوه اودتبوک پرپاته کیدونکوباندی دالله ﷻ له لوری ملامتیاوویل سوه اودبدر له غزاپاته کیدل بدنه وو نوهغه څوک چی دبدرپه غزاکې نه ووشریک سوی پرهغه باندی هیڅ ملامتیانسته په دې وجه دبدرڅخه پاته کیدل یې دغیرُ په حرف سره یادکړ ددې دپاره چی دبدرغزاڅخه پاته کیدل دتبوک دغزاله پاته کیدلوڅخه بیل اوجلادی نویې دواړه په بیل بیل استثنائي حروف مستثنی کړل ددغه فرق ته ښه فکروکوی داډیر باریک ځای دی (۲)

ابن سعدوایې چی داهغه قافله وه چی ددې لپاره غزوه ذی العشیره کې دوه سوه تنه ۲۰۰ مهاجرین رضی الله عنهم نبی کریم ﷺ له ځان ملګری کړه اوله مدینی وتلی وو داقافله شام ته ورسیده کله چی بیرته له شام راستنیده په همدې وخت کې رسول الله ﷺ دقافلی په نیت ووتی اود ډیرتلوار له کبله ډیر لږکسان درسول الله ﷺ ملګری سو اوداسفر لکه څنګه چی دجهاد دپاره نه بلکې دقافلی دپاره وو په دې وجه پرنه تلونکو باندی هیڅ ملامتیاونه ویل سوه

---

(۱) داروایت په سیرة ابن هشام کې په دی سندسره ذکرسوی دی : قال ابن اسحق فحدثنی محمدبن مسلم الزهری وعاصم بن عمروبن قتادة وعبدالله بن ابی بکر ویزیدبن رومان عن عروة بن الزبیر وغیرهم من علمائنا عن ابن عباس رضی الله عنه الخ .. ددې سندپه صحی کیدو اوقوی کیدو بلکې پرشرط دبخاری اومسلم باندی هم په دې کې هیڅ شک اوشبه نسته ،، وذلک طاهرلمن کان له قلب او القی السمع وهوشهید ، البدایه والنهایه ، جلد ۳، صفحه ۲۵۶،،

(۲) فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۲۳،،

سیف لودین کتابتون

دبدرغازيان بدرته روان سو !

دروژې مبارکی ۱۲ دوولسم ورځ رسول الله ﷺ له مدينې منورې څخه روان سو درې (۱) سوه ديارلس يا څورلس يا پنځلس کسان دهغه مبارک ﷺ ملګري وودبې وسۍ اوبېوزلۍ داحالت وو چې په دومره لوېه ډله کې يواځې دوه آسان او او ۷۰ اوښان وو يوآس دزبير بن العوام ؓ اوبل دمقداد ؓ ووپرېوه اوښ به ۲ دوه ۲ درې ۳ درې ۳ کسان په نوبت سپريدل عبدالله بن مسعود ؓ وايې چې بدرته دتلوپه وخت کې به يو اوښ ددرې درې کسانو سره ګډ وو په نوبت به سپريدل ابولبابه ؓ اوعلي ؓ درسول الله ﷺ سره شريک وو کله چې به درسول الله ﷺ دپښو دتګ نوبت راغلی نو ابولبابه ؓ اوعلي ؓ به غوښتنه ځنې وکړه چې يارسول الله ﷺ ته سپور سه مونږ ستا پرځای په پښو ځو ؟ خورسول الله ﷺ به دا فرمايل تا سو ترما په پلی تګ کې پياوړې نه ياست اوزه ترتاسو دالله ﷻ داجر ډير بې احتياجه نه يم بير ابي عنبه چې له مدينې منورې يو ميل ليرې دی کله چې ودې ځای ته ورسيدل نونبي کريم ﷺ ټول فوځ وکتی هغه څوک چې دلږ عمر وو هغه يې بيرته وليږل روحاء ته چې ورسيدل ابولبابه بن عبدالمنذر ؓ يې دمدينې خليفه وټاکی اوبيرته يې وليږی په دې لښکر کې درې بيرغه وو يو دعلي کرم الله وجهه په لاس کې وو اودويم دمصعب بن عمير ؓ اودريم ديوه انصاری په لاس کې وو کله چې صفراء ته نژدې سو نوبلبس بن عمرو جهني ؓ اوعدّی بن ابي الدغباء جهني ؓ يې دابوسفيان دقافلې دحالاتو معلومولو دپاره مخکې وليږل (۲)

له بل لوري ضمضم غفاری دابوسفيان پيغام مکې ته ورسوی او ويولوړ ځای ته پورته سو اوپه زوره يې چيغه کړه داسې ناری يې وهلې اې قريشو قافله دخطرله ځايه راوباسی اوډير ژر په تيزی سره دهغې خبر واخلی محمد ﷺ اودهغه ملګرو قافله محاصره کړی ده ، ددې خبر په اوريدو سره په ټوله مکه مکرمه کې شور اوزوږ جوړ سو څکه په قريشو کې داسې هيڅ نارينه اوښځه نه وه پاته چې هغه په دې قافله کې خپل شتمنې نه درلودله له دی امله ددې خبر په اوريدوسره په ټوله مکه کې جوش اوخروش جوړ سو اوزرکسان پوره له ډير سامان اوسلوزغرو تورو اوآسانو سره راووتل ابوجهل خبيث دهغه لښکر مشرقمندان وو ،

---

(۱) ده درې سوه ديارلس خبره په مسنداحمدبزار مجمع الطبراني کې دعبدالله بن عباس ؓ څخه روايت دی اود ۱۴ قول مجمع الطبراني کې له ابوايوب انصاری ؓ څخه روايت دی اود ۱۵ قول په بيهقی کې په حسن سند سره له عبدالله بن عمروبن عاص ؓ څخه نقل سوی دی ، فتح الباری جلد ۷ ، صفحه ۲۲۷ ،،،

(۲) طبقات الکبری لابن سعد جلد ۲ ، صفحه ۶ ،،

سیف لودین کتابتون

قریش په ډیره مستی. اودعیش عشرت له سامان سره سندری ویونکی ډمانی هم ملګری کړی په ډیر غروراو تکبر اوریاء سره زرتنه مشرکین له مکی راووتل (۱)،
لکه الله تعالی چی فرمایي وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِن دِيَارِهِم بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ(۴۷) آیت سورة الانفال
اې مسلمانانو دهغه کافرانو په شیر مه کیږی چی دخپلو کورو څخه په ډیر غرور اوتکبر او مستی سره دخپل زور اودبدبی دښودلو دپاره وتلی دی ..
دقریشو سرداران اومشران تقریباً ټول په دې لښکر کې شریک سو یوائی ابولهب په څه وجه نه ولاړی اودځان پرځای یې دابوجهل ورور عاص بن هشام ولیږی ، عاص بن هشام دابولهب قرض داره وو اودمفلسی په وجه یې قرض نه سو اداکولای نودقرض دنه اداکیدو په بدله کې دابولهب پرځای عاص بن هشام جنګ ته ولاړی (۲)
اودغه رنګه امیه بن خلف هم په لومړی سرکې ډیر ټینګاروکړ اوله تللوڅخه یې انکاروکی مګر ابوجهل په زور مجبورکی اوله لښکرسره ولاړی دامیه دانکار سبب داوو چی سعدبن معاذ انصاری ﷺ دجاهلیت په وخت کې دامیه دوست وو امیه چی به کله دتجارت دپاره شام ته تلی نودمدینی په لاره کې به پرسعدبن معاذ ﷺ باندی دمه کوله اوسعدبن معاذ ﷺ چی به کله مکی ته راغلی نوله امیه سره به وو درسول الله ﷺ ترهجرت وروسته یوځل سعدبن معاذ ﷺ دعمری کولودپاره مکی ته راغلی اودتیر په شیر دامیه کورته ورغلی اوامیه ته یې وویل چی دطواف کولودپاره ماته مناسب وخت ګوره کله چی حرم له خلکو خالی وی یعنی ګڼه ګوڼه نه وی ، امیه دغرمی په وخت کې سعدبن معاذ ﷺ له ځان سره ملګری کړاوطواف یې کوی ابوجهل خبیث په مخه ورغلی ورته وې ویل اې ابوصفوان (دادامیه کنیه دی) داستا ملګری څوک دی ؟
امیه وویل سعد ﷺ دی ابوجهل وویل زه ګورم داسړی په ډیرډاډه زړه طواف کوی ته دا سی بی دینانوته ځای ورکوی اوددوئ مرسته کوی اې سعد قسم په الله ﷻ که ابوصفوان درسره نه وای نوته به له دې ځایه روغ نه تلی . سعدپه لوړآواز وویل که ته ماله طواف کولو منع کړی نوقسم په الله ﷻ دمدینی لارخوبه ستاد قافلو پرمخ بنده کړم امیه سعد ﷺ ته وویل چی ته ابوالحکم ته یعنی ابوجهل خبیث باندی خپل آواز مه لوړوه دادمکی سردار اومشر دی ، سعد ﷺ په تریو تندی امیه ته وویل اې امیه بس ماپریږده قسم په الله ﷻ مادرسول الله ﷺ څخه اوریدلی دی چی ته به درسول الله ﷺ یادهغه دملګرو په لاس وژل

---

(۱) کمارواه مسلم وابوداؤد والترمذی عن ابن عباس ﷺ عن عمروابن سعدعن ابن مسعود ﷺ اوله موسی بن عقبه اودابن عائذ په مغازی کې راغلی دی چی نه نیم سوه تنه وو ددواړوروایتو په مینځ کې هیڅ تعارض نسته ځکه جګړه ماران ۹۵۰ سوه وو او ۵۰ تنه یې مریان اوخذمت ګاران وو ، زرقانی جلد ۱، صفحه ۴۱۰،،،
(۲) طبقات الکبری جلد ۲، صفحه ۷،،

سیف لودین کتابتون

کیږی امیه وویل آیازه به په مکه کې وژل کیږم ؟ سعد ؓ وویل نورزه نه یم خبر چی ته به چیری اوپه کوم ځای کې وژل کیږی ددې خبری په اوریدوسره امیه دومره وبیریدی له ډیره وهم سمدستی کورته ولاړی اوخپلی ښځی ام صفوان ته یې داخبره یاده کړه اوپه یوروایت کې راغلی دی چی امیه وویل (والله مایکذب محمد فکاد ان یحدث) قسم په الله ﷻ که محمد ﷺ هیڅکله دروغ ویلی وی اونژدی وه چی له ډیری ویری دامیه بن خلف متیازی بولی روانی سوی وی (فتح الباری جلد ۷، صفحه ۳۲۰) اوپرامیه باندی ویره دومره غالبه سوه چی داارادہ یې وکړه چی هیڅ کله به له مکی څخه دباندی نه وزی ، خوکله چی ابوجهل خلکوته دبدرپرلور دتګ وویل نوپرامیه باندی داخبره ډیره ګرانه سوه ځکه هغه پرخپل ځان بیریدی ابوجهل امیه ته ورغلی اودتګ یې ورته وویل خوامیه انکاروکړ ابوجهل ډیر ټینګاروکی خوکټه یې ونه کړه امیه تللوته تیارنه وو ابوجهل ورته وویل چی ته سرداریې که ته ولاړنه سی نوستاتابع خلک به ټول پاته سی لنډه داچی ابوجهل امیه باندی ډیر ټینګاروکی بالاخره یې ورته وویل چی اې ابوصفوان ستادپاره یوډیرښه آس رانیسم ددې دپاره چی که چیری دویری ځای وو نوتابه سمدستی له هغه ځایه رابا سی امیه دتللودپاره تیارسو اوکورته ولاړی ښځی ته یې وویل چې زمادسفرسامان تیار کړه ښځی ورته وویل اې ابوصفوان ستا دخپل یثربی وروړ خبره هیره کړی امیه وویل نه ښه مې یاددی خوزماارادہ ترلږځایه دی ترډیره ځایه نه ورسره ځم لږورسره ځم اوبیرته ځنی راګرزم امیه په دې اراده روان سو اوپه کوم ځای کې چی به کښته کیدی خپل آس به یې له ځان سره نژدی تړی مګر تقدیر دتیښتی وخت په لاس ورنه کړ بدرته ورسیدی او دبدرپه میدان کې دصحابه کرام ؓ په لاس ووژل سو (بخاری غزوه بدر)

لنډه داچی دامیه په خپلووژلوباندی یقین وو دابوجهل په ټینګارسره ولاړی ابوجهل په خپله هم تباه سو اونورقریش یې هم تباه کړل (احلوقومهم دارالبوار جهنم یصلونها وبئس القرار)

دقریشودروانیدو خبراودصحابه کرام ؓ په خپل مینځ کې مشوره اودصحابه کرام ؓ ددلاوری اوقربانی تقریرونه

له روحاء څخه چی کله رسول الله ﷺ اودهغه ملګری ؓ صفراء ته ورسیدل نوبسبس ؓ اوعدی ؓ راغلورسو ل الله ﷺ ته یې دقریشودروانیدوخبرورکړ په همدې وخت کې رسول الله ﷺ مهاجرین اوانصار ؓ دمشوری لپاره راوغوښتل اودقریشوپه دې شان راتګ سره یې خبر کړه ابوبکر صدیق ؓ ددې خبرپه اوریدوسره سمدستی ولاړسو اوډیرپه ښه انداز یې دځان دقربانی ښکاره ونه وکړه اودسرپه سترګویې دهغه مبارک ﷺ اشاره قبوله کړه اوپه بدن اوزړه یې دمنلودپاره ملاوتړله ترده وروسته عمرفاروق ؓ ولاړسو اوهغه هم په ډیر ښه انداز اودقربانی ښکاره کولوپه ښه شان سره اظهاروکړ،

سیف لودین کتابتون

دمقداد بن اسود رضی الله تعالی عنه ځان قربانونکی تقریر (۱)

تردوئ دواړووروسته مقدادبن اسود ﷺ ولاړسو اوغوښتنه یې وکړه چی یارسول الله ﷺ دکوم شئ چی الله تعالی تاته حکم کړی دی هغه پوره کړه موږټول ستاسره یو قسم په الله ﷻ موږدبنی اسرائیلوپه شیرهیڅ کله داسی نه وایو چی اې موسی ﷺ ته اوستارب ﷻ ولاړ سی وجنګیږی اوموږټول به دلته ناست یو موږبه دبنی اسرائیلو په خلاف داوایو چی ته اوستارب جهادوکوی موږهم درسره ملګری یو.

دادابن اسحاق دروایت الفاظ دی (۲) اودبخاری په روایت کې داسی الفاظ راغلی دی: (ولکن نقاتل عن یمینک وعن شمالک وبین یدیک وخلفک) موږستاراسته خواته اوستاچپه خواته اوستادمخ وخواته اوستادشاوخواته جنګیږو خوتایواځی نه پریږدو، دحدیث راوی عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایې: چی ماپه دغه وخت کې ولیدل چی درسول الله ﷺ مخ مبارک له ډیری خوشالی ځخه وځلیدی (بخاری شریف صفحه ۵۶۴غزوه بدر)

دابن اسحق په روایت کې راغلی دی چی نبی کریم ﷺ دمقداد ﷺ دپاره دخیر دعاء وکړه.

ابوایوب انصاری ﷺ فرمایې: چی موږپه مدینه منوره کې وو چی رسو ل الله ﷺ موږته دابوسفیان دقافلی خبرراکړ اووې فرمایل چی که تاسوولاړسی کیدای سی چی الله ﷺ تاسوته غنیمت په لاس درکړی موږوویل ډیر ښه اوملګری روان سو کله چی مویوه دوې ورځی مزل وکړ بیا یې موږته دمکی دقریشو دتیاری خبرراکړ اودجهاد اودجنګ دتیارید ولاربښوونه یې راته وکړه یوشمیرخلکولږځه فکروکی، ځکه له کوره په دې اراده نه وو راوتلی چی جنګ به کوی یواځې دقافلی دپاره راوتلی خومقداد ﷺ ولاړسو اوتقریریې وکی اودقربانۍ داسی اظهاریې وکړ کاشکی چی موږټولوداسی ویلی وای لکه مقداد ﷺ چی وویل (رواه ابن ابی حاتم) یعنی کاشکی چی لومړی ځل موږټولودغه خبره کړی وای ځکه وروسته خوبیاټولوهمدا وینا وکړه دټولوصحابه ﷺ په زړوکې هغه خبره وه کومه چی دمقداد ﷺ له خولی ځخه ووتله (په مسنداحمدکې په حسن روایت سره نقل سوی دی چی درسول الله ﷺ ټولوملګروپه یوه خوله وویل چی یارسول الله ﷺ موږ دبنی اسرائیلوپه شیرنه وایو موږپه هرحال کې ستاملګری یو ددې شافی اوکافی ځواب په اوریدوسره رسول الله ﷺ دریم ځل بیاوفرمایل چی اې خلکوتاسوماته مشوره راکړی؟ دانصارو ﷺ مشر سعدبن معاذ ﷺ دنبی کریم ﷺ افصح العرب والعجم صلی الله علیه وسلم

---

(۱) دمحمدبن اسحق له روایت معلومیږی چی مقداد ﷺ داتقریرپه صفراء کې وکړ اودصحیح بخاری اونسائی له روایت معلومیږی چی دبدرپه ورځ یې داتقریروکړ، فتح الباری جلد ۲، صفحه ۲۲۳،، مګر ددواړو روایتوپه مینځ کی منافات نسته ځکه اول مقداد ﷺ داتقریرپه صفراء کې دنبی کریم ﷺ دپوښتنی په ځواب کی وکی اودبیایې په ډیروځایوکې :استلذاذ خونداخیستودپاره داځان قربانونکی اوله مینی ډک خبری بیابیا یادی کړی، والله سبحانه وتعالی اعلم،،

(۲) زرقانی جلد ۱، صفحه ۴۱۲، سیرة ابن هشام جلد ۲، صفحه ۱۲،،

سيف لودين كتابتون

په دې بليغه اشاره اوباريکه خبرپوه سو سمدستي يې وويل چې يارسول الله ﷺ کيدای سي ستاد خبرې اشاره انصارو ﷺ ته وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل هو (١) له دې وروسته سعدبن معاذ ﷺ زړه راښکونکي تقرير وکړ چې په لاندې ټکوکې تاسو ته بيانيږي .

دسعدبن معاذرضي الله عنه ځان ځارونکي خبرې

يارسول الله قد آمنا بک وصدقناک وشهدنا ان ماجئت به هوالحق واعطيناک على ذلک عهودا ومواثيق على السمع والطاعة ولعلک يارسول الله خرجت لامر فاحدث الله غيره فامض لماشئت وصل حبال من شئت واقطع حبال من شئت وسالم من شئت وعادمن شئت وخذ من اموالناماشئت واعطنا ماشئت(٢) وماأخذت منا کان احب الينا مماترکت ومامرت به من امرنا فامرناتبع لامرک لئن سرت حتى تاتي برک الغماد لنسيرن معک فوالذى بعثک بالحق لواستعرضت بنا هذا لبحرلخضناه وماتخلف منا رجل واحد ونکره ان نلقى عدونا انالصبرعندالحرب صدق عنداللقاء ولعل الله يريک منا ماتقربه عينک فسربنا على برکة الله (زرقاني جلد١، صفحه ٤١٣)

اې دالله ﷻ رسول ﷺ موږپرتاباندې ايمان راوړی دی اوستاتصديق موکړی دی اودډې خبرې شاهدی موورکړې چې تاچه راوړی دی هغه حق دی اودمنلواوقربانۍ په اړه موپخه وعده کړې ده اې دالله رسول ﷺ ته دمديني څخه ديوه شئ په اراده راوتلی وی خو الله تعالى بل څه پيښ کړه څه چې دالله تعالى خوښه وی پرهغه لاره ولاړسه اوله چاسره چې غواړې اړيکې سمې که اوله چاسره چې غواړې اړيکې وشلوه اوله چاسره چې غواړې سوله وکړه اوله چاسره چې غواړې دښمنی وکړه موږ په هرحال کې له تاسره يو زموږله مالوچې ته څومره اندازه غواړې هغه واخله اوڅومره اندازه چې موږ ته پرېږدې هغه موږته راکړه اودمال کومه برخه چې ته اخلې هغه به زموږ تردې ډيره خوښه وي کومه چې ته موږته پرېږدې اوکه ته موږته دبرک الغماد پورې دتللوحکم وکوی نوموږبه خامخاستاسره ځو قسم په هغه پاک ذات چې ته يې په حق راليږلې يې که ته موږته په سيندکې دننوتلوحکم وکوی هم به موږسمدستي په درياب کې ننوزو اوزموږڅخه به هيڅوک شاته نه پاته کيږي موږددښمنانوسره مقابله کول بدنه ګڼو اوخامخايقيناً موږ دجنګ په وخت کې ډير صبرناک اوپه مقابله کې رښتيني يوله الله ﷻ څخه اميدلرم چې الله ﷻ به تاته زموږڅخه هغه شئ وښيي چې په هغه ستاسترګې يخيږي نو دالله ﷻ دنامه په برکت موله ځان سره ملګری کړه.

(١) لکه څنګه چې انصارو ﷺ له رسول کريم ﷺ سره يواځې په بيعت عقبه کې ددې وعده کړې وه چې کوم دښمن چې پرتاحمله وکوی په دغه وخت کې به موږستامرسته کوو دمديني څخه دباندې تللوسره دجنګ کولو وعده نه وه نوځکه نبي کريم ﷺ انصارو ﷺ ته بيابيادمشورې ويل ، سعدبن معاذ ﷺ دنبي کريم ﷺ په اشاره پوه سو ځواب يې ورکړ ، اوداسې ځواب يې ورکی چې زړه يې تعبيرنه سم کولای (رضي الله عنهم ورضوا عنه آمين ،البدايه والنهايه جلد ٣، صفحه ٢٦٢،، وعيون الاثر جلد١، صفحه ٢٧٤،،

(٢) په دې الفاظوکي ودې ته اشاره دی چې زموږ مالونه په اصل کې ستادی که زموږله مالوڅخه ته موږته څه راکړې نوګواکي دابه ستابښنه اوهديه وي ،، منه عفى عنه ،،

سیف لودین کتابتون

په بعض روایاتو کې دسعدبن معاذ رضی الله عنه پرځای دسعدبن عباده رضی الله عنه نوم یاد سوی دی مگر داصحیح نه دی دراوی وهم دی ځکه سعدبن عباده رضی الله عنه دټولو په اتفاق سره په بدرکې نه دی حاضرسوی دتفصیل دپاره زرقانی وگوري.

رسول الله ﷺ چې کله دخپلو ملگرو دافدایې ځوابونه واوریدل ډیر خوشاله سواووې فرمایل : دالله ﷻ په نوم سره حرکت وکوی اوتاسوخوشاله سی ا لله تعالی له ماسره داوعده کړی چې دابوجهل یاابوسفیان له دواړوډلوڅخه به پریوه باندی خامخاتاته بری درکوم ، اوماته دقریشودمشرانودمرگ ځایونه ښودل سوی چې فلانی سړی به په فلانی ځای اوفلانی سړی به پرفلانی ځای راپرزی

لکه الله تعالی چې فرمایې :

وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ وَيُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكَافِرِينَ (٧) لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ (٨) سورة الانفال)

هغه وخت یادکه چې کله الله تعالی له تاسوسره وعده کوله چې دکافرانودوو ډلوڅخه به یوه ډله تاته درکوم اوتاداخوښول چې هغه ډله چې بیوسلو وه ستا دپاره سی اودالله اراده داده چې حق په خپلوفیصلوسره ثابت کړی اودکافرانوریښي جرړی وباسی ددې دپاره چې دحق حق کیدل اودباطل باطل کیدل په ښکاره ډول ښه روښانه سی .

دعاتکه بنت عبدالمطلب خوب

له یوی خوانبی کریم ﷺ خپلوملگروته داخبرورکړ چې ماته دکفارودراپرزیدوځایونه ښودل سوی دی اوله بلې خوا په مکه مکرمه کې درسو ل الله ﷺ ترور عاتکه بنت عبدالمطلب دضمضم غفاری تررسیدومخکې داخوب ولیدی چې یواوښ سپورسړی راسی اوپه ابطح نومی ځای کې اوښ چوکی اوپه لوړآواز داچغې ووهی (الاانفروا یاآل غُدرٍ لمصارعکم فی ثلاث) (١)اې غدارانود خپل مرگ ځای ته راسی اودپرزیدوځای ته راسی په درې ورځوکې راووزی. خلک دهغه سړی پرشاوخوااګرزیدلی وی بیاهغه سړی مسجدحرام ته ننوتی بیایې دغه ناره وکړه وروسته بیاپرابو قبیس غره باندی وختی اوله لوړه ځایه یې یوغټ سخرلویه ډبره راگیله کړه کله چې هغه ډبره دغره لمنی ته راورسیده نوزره زره سوه اودمکی هیڅ کور داسی پاته نه سو چې پرهغه دې دهغې ډبری یوه ټوټه نه وی موښتی عاتکی داخوب خپل ورور عباس رضی الله عنه ته بیان کی ، اووې ویل اې وروره قسم په الله عزوجل مانن داخوب لیدلی دی اواندیښنه لرم چې ستاپرقوم به څه مصیبت اوبلا راتلو نکی ده گوره داخوب هیچاته ونه وایې عباس رضی الله عنه له کوره دباندی راووتی اوخپل دوست ولیدبن عتبه ته یې داخوب ووایو اوداټینگاریې وکی چې داخوب به بل هیچاته نه وایې

(١) څنگه چې خلکو دالله ﷻ اودهغه له رسول ﷺ سره غدر کړی وو په دې وجه دخوب په نړۍ کې دې خلکوته آل غدر وویل سو اودالیری نه دی چې دغدرڅخه مرادشیطان وی ځکه مشرکین دشیطان تابع دی په دې وجه هغوئ ته آل غدر وویل سو

سیف لودین کتابتون

مګر ولید خپل پلار عتبه ته دا خوب ټکی په ټکی بیان کړ دخوب خبره په ټوله مکه کې خپره سوه دویمه یادریمه ورځ عباس ﷺ مسجد حرام ته ولاړی ابوجهل دخلکو په منځ کې ناست دی ده چی کله عباس ﷺ ولیدی سمدستی یې ورته وویل اې ابوالفضل ستاسو نارینه ووخو دنبوت دعوه کړی وه خواوس ستاسو ښځو هم دنبوت دعوه شروع کړه ، عباس ﷺ وایې ماپوښتنه وکه څه خبره ده ابوجهل دعاتکی خوب یادکی په دې وخت کې ضمضم غفاری دابوسفیان له پیغام سره په داسی حالت کې راښکاره سو چی قمیص یې شلیدلی اوداوښ پزه یې پریکړی وه اوداناری یې وهلی اې قریشو خبر واوری خبرواوری او ژر ترژره دابوسفیان دقافلی مرستی ته ځان ورسوی د دې خبرپه اوریدو سره په قریشوواویلا ګډه سوه دوئ ټول په پوره ساز سامان له مکی څخه راووتل اوبدرته ورسیدل دخوب معنی یې په ویښه اوپه خپلوسترګوولیده (۱) اوهیثمی ویلی دی چی ددې روایت طبرانی مرسلاً کړی دی اوپه دې کی ابن لهیعة دی اوهغه ضعیف دی اوروا یت یې حسن دی (مجمع الزوائد) دموسی بن عقبه په روایت کې راغلی دی چی ضمضم غفاری چی کله مکی ته ورسیدی نودقریشوپه زړوکې دعاتکی د خوب ویره پیداسوی وه (۲)

فائده: دعاتکه بنت عبدالمطلب په اسلام کې اختلاف دی ابن سعدفرمایې (۳) چی عاتکه مسلمانه سوی ده اومدینی ته یې هجرت کړی دی (اصابه ترجمه عاتکه بنت عبدالمطلب

دجهیم بن الصلت خوب

لنډه دا چی قریش دپوره تیاری سره په ډولونو ، ربابو ، باجو اودسروز له نورآلاتوسره روان سو کله چی جحفه ته ورسیدل نوجهیم بن صلت یوخوب ولیدی هغه داسی چی یو سړی پر آس سپوروی اویواوښ ورسره وی هغه راسی اوودریږی اوداوایې چی قتل سو عتبه بن ربیعه ، اوشیبه بن ربیعه ، اوابوالحکم بن هشام یعنی ابوجهل ، اوامیه بن خلف اوفلان اوفلان وروسته هغه سړی له اوښه یوه نیزه دلښکرپرلوری وویلی په ټول لښکر کې داسی خیمه پاته نه سوه چی پرهغې دی دوینی څاڅکی نه وی سوی ،،

ابوجهل چی کله په دې خوب خبرسو نوډیر وبیریدی اوده وویل چی داپه بنی المطلب کې دویم نبی پیداسو سهارچی کله جنګ شروع سی نوبیابه ده ته معلومه سی چی په جنګ کې زموږ څخه څوک وژل کیږی (۴)

بسبس ﷺ اوعدی ﷺ خورسول الله ﷺ دابوسفیان دقافلی دخبر لپاره لیږلی وو هغه چی کله بدرته ورسیدل نودیوی غونډۍ په پای کې یوه چینه وه هلته یې خپل اوښان ګونډه کړل په دې وخت دوې ښځی راښکاره سوی په هغو کې یوی له دویمی څخه دخپل قرض غوښتنه

---

(۱) مستدرک للحاکم جلد ۳، صفحه ۱۹ ، مجمع الزوائد جلد ۶، صفحه ۷۱،،

(۲) البدایه والنهایه ، جلد ۳، صفحه ۲۵۸،،

(۳) الاصابه جلد ۴، صفحه ۳۵۷،،

(۴) البدایه والنهایه جلد ۳، صفحه ۲۶۵، عیون الاثر جلد ۱، صفحه ۲۵،،

سیف لودین کتابتون

وکړه داپوروړی ښځي ورته وویل چی صبایابل صبا دلته دقریشو قافله له شام رارسیږی په هغه وخت کې به څه مزدوری وکوم چی څه وګټم ستاقرض به هم درکړم ، مجدی بن عمرو جهنی هم داوبودچینی څنګ ته ناست وو اوداټولی خبری یې اوریدی کله چی پوروړی ښځی دپور غوښتونکی ته وویل چی صبایابل صبا دقریشو قافله راځی په هغه وخت کې به دقافلی دخلکومزدوری وکړم اوستاقرض به اداکړم نومجدی وویل رښتیاوایې داخبره یې وکړه خپلی ځای ته روان سو بسبس ﷺ اوعدی ﷺ داخبری واوریدی په اوښ سپاره سو اودرسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو اودپیښی خبری ورکړی، دبسبس ﷺ اوعدی ﷺ ترتګ وروسته سمدستی ابوسفیان درسول الله ﷺ دنقل اوحرکت دخبر دپاره ودې ځای ته راورسیدی اوله مجدی بن عمروڅخه یې پوښتنه وکوله چی آیاتادلته څوک تلونکی یاراتلونکی لیدلی دی .؟ مجدی وویل نه هیڅوک می هم ندی لیدلی یوائی دوه سپاره می ولیدل چی ددې غونډۍ شاته یې خپل اوښان چوکړل اواوبه یې وڅیښلی اوداوبوژی یې ډک کړه اوولاړل ابوسفیان سمدستی هغه ځای ته ورغلی په کوم ځای کې چی دوه سپاره کښته سوی وو ابوسفیان په همدې ځای کې داوښانوپچی ولیدی هغه یې راپورته کې کله چی یې پچه ماته کړه نودخورمازړی پکښي ووابوسفیان چی کله دخورمازړي ولیدل وې ویل قسم په الله دیثرب دخورماو وزړی دی سمدستی له هغه ځایه ولاړی اودقافلی مخ یې بل لوری ته واړوی او دسیند پر غاړه غاړه یې قافله مکی ته ورسوله اوقریشوته یې پیغام ولیږی چی تاسوخوددې دپاره راوتلی واست چی قافله اوخپل سړی اوخپلی شتمنی مو خوندی سی الله تعالی داټول وساتل نو تاسوټول بیرته مکی ته راسی ځکه دکوم هدف دپاره چی تاسووتلی واست هغه ترسره سو

ابوجهل وویل ترڅو چی موږ بدر ته نه یورسیدلی اودرې ورځی پرلپسی موهلته کبابونه شرابونه اتڼونه بنی مزی اوچړچی نه وی کړی ترهغه وخت بیرته مکی ته نه ځو ،

اخنس بن شریق دبنی زهره قبیلی مشر وویل چی اې بنی زهره تاسویوائی دخپلومالو دساتنی دپاره راوتلی واست الله تعالی ستاسومالونه وساتل اوس موږ ته دجنګ کولو اړتیا نسته بیله څه مجبوری ولی ځان په هلاکت کې اچه وو دبنی زهره قبیلی ټول خلک د خپل مشراخنس بن شریق په وینا بیرته ولاړل اودبنی زهره یوسړی هم دبدربه جنګ کې نه دی شریک سوی یوشمیرنوروخلکوهم همداسی وویل چی زموږقافله روغه اوخوندی ورسیده نواوس دجنګ څه ضرورت پاته دی مګر ابوجهل دهیچاخبره نه اوریده اودبدر پرخوا روان سودوئ یوه هم نه سو راګرزولای (۱)

(۱)سیرة ابن هشام جلد ۲، صفحه ۱۴، البدایه والنهایه جلد ۳،صفحه ۲۶۶،،

سیف لودین کتابتون

اوله بلې خوا رسول الله ﷺ له خپلو ملګرو سره بدرته ورسیدی مګر قریش ترده دمخه رسیدلي وو او داوبو پرچینه باندې یې ولکه ټینګه کړې وه او دځان دپاره یې ښه ځای په ښنبه کړې وو خود مسلمانانو حالت بل رنګه وو نه هغوئ ته اوبه ورسیدې او نه برابر ځای دشګو یو میدان وو چې په هغه کې تګ کول هم ګران وو په شګوکې پښې ننوتلې په همدې وخت کې الله تعالی درحمت باران وکې چې په هغه سره ټول شګه کلکه سوه او داوبو دپاره یې حوضونه هم جوړکړه واړه واړه حوضونه ددې دپاره چې صحابه کرام ؓ اودسونه او غسلونه په کښې وکوي ..

په سورة انفال کې الله تعالی شانه دا احسان یادکړې دی : وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ وَلِيَرْبِطَ عَلَى قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَامَ (۱۱ آیت سورة الانفال) الله تعالی پرتاسو باندې داسمان څخه اوبه راتوې کړلې ددې دپاره چې تاسو پاک کې او ستاسو څخه دشیطان خرابۍ لیرې کړي او ددې دپاره چې ستاسو زړونه ټینګ کړي او ستاسو ګامونه کلک کړي .

دا اوبه که څه هم مسلمانانو دخپل ضرورت دپاره راتړلې وې مګر نبی اکرم ﷺ رحمت عالم صلی الله علیه وسلم خپلو دښمنانو ته ددې دڅښنلو اجازه هم ورکړې وه ،، کله چې ماښام سو نو رسو ل الله ﷺ علي ؓ او زبیر بن عوام ؓ او سعد بن ابی وقاص ؓ او څو نور صحابه کرام ؓ دقریشو دحال دمعلومولو دپاره ولیږل ناڅاپه دوئ ته دوه ۲ مریان په لاس ورغلو هغه یې لاس تړلې راوستل او پوښتنې یې ځنې پیل کړې رسول الله ﷺ په همدې وخت کې پرلمانځه ولاړ وو مریانو وویل موږ دقریشو اوبه راوړونکي یو دابوراوړلو لپاره راوتلي وو چې تاسو بندیان کو خو صحابه ؓ ددوئ په خبرباور ونه کې هغه یې ووهل او د ابوسفیان دحالت پوښتنه یې ځنې وکړه کله چې دوئ ووهل سو نو وې ویل چې موږ دابو سفیان دقافلې مریان یو صحابه ؓ چې داخبره واوریده نو ددوئ له وهلو یې لاس واخیستې رسول الله ﷺ چې کله له لمانځه خلاص سو نو وې فرمایل : چې کله چې دې مریانو رښتیا ویل نو تاسو ووهل او کله چې یې دروغ وویل نو تاسو پرېښنودل قسم په الله ﷻ دادقریشو مریان دی یعنی دابوسفیان له ملګرو څخه نه دی رسو ل الله ﷺ ودوئ ته وویل چې قریش چیرې دی ؟ هغه مریانو وویل والله ددې مقنقس غونډۍ شاته دی رسول الله ﷺ وفرمایل څومره خلک دی ؟ مریانو وویل چې ډیر دی رسول الله ﷺ وفرمایل دهغوئ شمیرڅومره دی ؟ مریانو وویل موږ ته ددوئ شمیرنه دی معلوم رسول الله ﷺ وفرمایل هره ورځ دخوراک دپاره څو اوښان حلالوي؟

مریانو وویل چې یوه ورځ نه ۹ او بله ورځ لس ۱۰، نبی کریم ﷺ وفرمایل چې دزرو ۱۰۰۰ او نه سوه ۹۰۰ تنو په مینځ کې دی تردې وروسته نبی کریم ﷺ پوښتنه وکه چې دقریشو له

سیف لودین کتابتون

مشرانو څخه څوک راغلی دی ؟ دوئ وویل عتبه بن ربیعه ، اوشیبه بن ربیعه ، او ابو البختری بن هشام ، اوحکیم بن حزام ، اونوفل بن خویلد ، اوحارث بن عامر ، اوطعیمه بن عدی ، اونضربن الحارث ، اوزمعة بن الاسود ، اوابوجهل بن هشام ، اوامیه بن خلف ، اونبیه بن حجاج ، اومنبه بن حجاج ، اوسهیل بن عمرو ، اوعمرو بن عبدود ، دامشران په دې لښکر کې راغلی دی ، رسول الله ﷺ چی کله ددوئ نمونه واوریدل نوصحابه ﷺ وخواته یې مخ مبارک واړوی اوورته وې فرمایل چی مکی نن دخپل ځګرټوټی تاسوته وړاندی کړی دی ،، لنډه داچی په دې ډول یې دقریشو حال معلوم کی ،،

دجنګ دپاره دصحابه کرام ﷺ تیاری

کله چی سهارسو نورسو ل الله ﷺ دجنګ دپاره تیاری ونیوی اودسعدبن معاذ ﷺ په رایه سره درسول الله ﷺ دپاره د غونډۍ پرسرباندی ځای جوړ سو .

ان سعد بن معاذ ﷺ قال یانبی الله الانبنی لک عریشا تکون فیه ونعد عندک رکائبک ثم نلقی عدونا فان اعزنا الله واظهرنا کان ذلک ما احبنا وان کانت الاخری جلست علی رکائبک فلحقت بمن ورائنا من قومنا فقد تخلف عنک اقوام یانبی الله مانحن باشد لک حبا ولوظنوا انک تلقی حربا ماتخلفوا عنک یمنعک الله بهم ینا صحون ویجاهدون معک فاثنی علیه رسول الله ﷺ صلی الله علیه وسلم خیرا ودعاله بخیر ثم بنی لرسول الله صلی الله علیه وسلم عریش فکان فیه

سعدبن معاذ ﷺ وویل یارسول الله ﷺ آیاموږ ستادپاره یوڅپر(۱)سایه کونکی ځای جوړ کو چی په هغه ځای کې به ته یې اوسپرلۍ به ستاخواوشا نژدی تیاری وی موږ به له دښمن سره مقابله کوو که الله تعالی موږ ته عزت راکی اوپردښمن یې بریالی کړو نو داخوزموږ ارزاوغوښتنه ده اوکه خدانخواسته بل څه پیښ سی نوته به په سپرلی سپور سی اوزموږ دقوم له پاته خلکوسره به یوځای سی دقوم کوم خلک چی شاته پاته سوی دی اې دالله ﷻ پیغمبر ﷺ موږ ترهغوئ ډیر ستامحبت کونکی نه یو (۲) که دهغوئ په یووجه له وجوهو داګمان وای چی ته به له جنګ سره مخامخ کیږی نوهیچری به هم شاته نه پاته کیدل کیدای سی الله ﷻ دهغوئ په ذریعه ستاساتنه کړی وی په ډیر اخلاص اوخیر غوښتنی سره به ستاسره جهادکوی ،،رسول الله ﷺ دسعدبن معاذ ستاینه وکړه اودهغه په اړه یې دخیردعاوکړه وروسته درسول الله ﷺ دپاره یوڅپرسالګی جوړه سوه رسول کریم ﷺ په هغه ځای کی وو داڅپر(۳) په لوړځای اوغونډۍ جوړه سوه چی دولاړی په حالت کې دجنګ میدان ټول ښکاره کیدی

---

(۱) داڅپره دخورما له ښاخلو څخه جوړه سوه ، طبقات ابن سعد ،،

(۲) دااخلاص هغه دپای درجه ده اوداسی درجی دمینی اوځان قربانیدو څخه نورنه په ژبه سره اونه په زړه سره دهغه دمحبت څوک دعوه کولای سی مخلص محبت کونکی هغه دی چی هغه ودې ته هیڅ فکر هم نه وی چی دی څه وایې ، ۱۲ منه عفاعنه ،،

سیف لودین کتابتون

انس ﷺ له عمر فاروق ﷺ څخه روایت کوی (۱) چی راتلونکي سهارچی دجنګ میدان وو اودجنګ اوړپکی بلیدونکي وو په هغه شپه نبی کریم ﷺ موږ هغه میدان ته بوتلو ددې دپاره چی دقریشودوژلوځایونه راپه ګوته کی رسول الله ﷺ به په خپل لاس مبارک اشاره ورته کوله اودابه یې ویل هذامصرع فلان ان شاء الله ، دادفلانی دوژلوځای دی که دالله ﷻ خوښه وه اودوژلوپرځای به یې لاس ایښودی اونام په نام به یې صحابه ﷺ ته هغه ځایونه ښودل قسم په هغه ذات چی نبی کریم ﷺ یې په حق رالیږلی دی هیڅ یوسړی که ترهغه ځای سرتیرکړی وی کوم ځای ته چی به رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک اشاره کړی وه (رواه مسلم ، باب ذکرالنبی ﷺ من یقتل ببدر (۲)

وروسته رسول الله ﷺ اودهغه رښتینی دوست ابوبکرصدیق ﷺ دواړه هغه سالګی ته ننوتل اودوه رکعته لمونځ یې وکړ اوصدیق الانصار سعدبن معاذ ﷺ دځیرپه دروازه کې توره په لاس ولاړوو (۳)

علی کرم الله وجهه فرمایې : چی دبدرپه شپه کې هیڅوک له موږ څخه داسی نه ووچی نه وی بیده سوی پرته له رسول الله ﷺ څخه چی ټوله شپه یې په لمانځه اودعاء اوژړا تیره کړه په دغه حالت کې پرسهارسو (رواه الطبرانی وابن جریروابن خزیمه وغیرهم)

دسپیدودچاودلوپروخت یې سمدستی داسی اعلان وکی الصلاة عبادالله،اې دالله ﷻ بندګانو دلمانځه وخت دی ، ددې آواز په اوریدوسره ټول سره یوځای سو رسول الله ﷺ دیوی درختی بیخ ته ودریدی اوټولوته یې لمونځ ورکړ دلمانځه ترپوره کیدو وروسته دالله ﷻ په لاره کې دقربانی اوفداکاری ترغیب یې ورکړ (رواه ابن ابی شیبه واحمدوابن جریر وصححه منتخب کنزالعمال جلد ۴ صفحه ۴۹۸)

تردې وروسته یې دصحابه کرامو ﷺ صفونه برابرکړل ، له بلی خوا دکافرانوصفونه تیاروو دروژی مبارکی اوولسم اودجمعی ورځ وه چی یوه خواته دحق ټولی اوبلی خواته دشیطان ډله دفرقان په میدان کې سره مخامخ سوی (۴)

رسول الله ﷺ چی کله دقریشودالویه ډله له ډیرو آسانو اوسپرو اودجنګ له توکو توروا ونیزوسره په میدان کې ولیده نودالله ﷻ په دربارکې یې دادعاوکړه :

---

(۱) په مسنداحمدکې په صحیح سندسره له انس ﷺ څخه روایت سوی دی چی چادانس ﷺ څخه وپوښتل چی آیاته دبدرپه جنګ کی وی هغه وفرمایل زه له بدرڅخه چیری تلای سوم ځکه انس ﷺ دنبی کریم ﷺ دخذمت دپآره له هغه سره تللی وو دلږعمرپه وجه په جنګ کې نه دی شریک سوی دده عمرپه همدې وخت کې لس ۱۰ یایولس ۱۱ کاله وو په دې وجه هغه په بدرییونو کې نه دی شمیرل سوی ، زرقانی ، جلد۱، صفحه ۴۳۴،،،،

(۲) زرقانی جلد۱، صفحه ۴۱۴، ۴۱۶، (۳) طبقات ابن سعد جلد۲، صفحه ۹،،

(۴) الله تعالی دبدرورځی ته یوم الفرقان ویلی دی یعنی دحق اوباطل جلاکونکی ورځ په دې مناسبت ماهم له هغه میدان په میدان فرقان تعبیرکړی دی چی په دې میدان کې دحق اوباطل درمنځ اوتیاری فرق ښکاره سوی دی ..

سيف لودين كتابتون

اللهم هذه قریش قد اقبلت بخیلائها وفخرها تجادلک و تکذب رسولک اللهم فنصرک الذی وعدتنی
اللهم احنهم الغداة (سیرة ابن هشام فتح الباری باب قول الله تعالی اذ تستغیثون ربکم الی قوله شدید العقاب
اې الله ﷻ دادقریشو ټولی. ده دوئ ډیرپه تکبراوغرور سره دمقابلی دپاره راوتلی دی ستاسرغړونه کوی اوستارالیږلی استازی دروغجن بولی اې الله ﷻ خپل فتحه اوبری نازل که هغه چی تازموږسره وعده کړی ده او اې الله ﷻ هغوئ ترڅابنته پوری هلاک کړی وروسته یې لښکرتیارکړدصفودبرابرولوپه وخت کې درسول الله ﷺ په لاس کې یوغشی وو دصف څخه چی به څوک وتلی وو هغه ته به یې په دې غشی اشاره ورکړه چی شاته سه یامخ ته په دې وخت کې سوادبن غزیه ؓ لږمخکی وو رسول الله ﷺ دمهربانی اوخوش طبعی په ډول دسواد بن غزیه ؓ په نس کې دغشی یوسر راکش کی وې فرمایل (استویا سواد) اې سواد ؓ سیده ودریږه !
سواد ؓ وویل یارسول الله ﷺ (اوجعتنی وقد بعثک الله بالحق والعدل فَاَقِدنی)
اې دالله رسول ﷺ تازه خوږ کړم اوربنتیاهم الله تعالی ته په حق اوانصاف سره راالیږلی یې نوزمابدله راکړه ؟
رسول الله ﷺ له خپل نس مبارک قمیص پورته کی اوسواد ؓ ته یې وفرمایل خپله بدله واخله ، سواد ؓ پرنس مبارک باندی خوله کیښوده اومچ یې کړاوغوښتنه یې وکړه چی یارسول الله ﷺ کیدای سی داآخری دیدن وی رسول الله ﷺ خوشاله اومسکی سو اود سوادبن غزیه ؓ دپاره یې دخیردعاوکړه (اصابه ترجمه سواد ؓ جلد ۲، صفحه ۹۵، سیرة ابن هشام جلد ۲، صفحه ۱۷،،)
رسول الله ﷺ اسلامی لښکر په لیکه برابر ودروی اودفوځ صفونه یې دملائکه وو دصفوپه څیر برابراوسیده ودرول وروسته یې خپل ځای ته تشریف یوووړی یواځی ابوبکرصدیق ؓ له هغه سره په څپرکی وو اوسعدبن معاذ ؓ توره په لاس دڅپرپه دروازه کې ولاړوو ،
ابومحجن ثقفی ؓ وایې :

وَسُمِّیتَ صِدِّیقًا وَکُلُّ مهاجر.........سِوَاکَ یسمی باسمه غیر منکر

ستانوم ربنتنی ایښودل سوی دی ،، اوهرمهاجر لتاپرته په بل نامه سره یادیږی

سَبَقْتَ الی الاسلام والله شاهدٌ..............وَکُنْتَ جَلِیْسًا بِالْعَرِیْشِ المشهر

ته په اسلام کې مخکې وی اوالله شاهددی چی ته په څپره کې درسول الله ﷺ ملګری وی

وبِالغارِ اذ سُمِّیت بالغار صاحبا............وکنت رفیقا للنبی المطهر

اودغه رنګ ته په غارثورکی هم درسول لله ﷺ سره وی په دې وجه تاته دیار ملګری ویل سوی دی (الاستیعاب لابن عبدالبر ترجمه ابی ابکرصدیق ؓ)

سیف لودین کتابتون

قریش چې کله ډاډه سو نو د جنګ تر پیل کیدو دمخه عمیر بن وهب جمحی یې د مسلمانانو دفوځ د اندازې د معلومولو د پاره ولیږی عمیر بن وهب پر آس سپور سو او د مسلمانانو د فوځ پر شاوخوا او ګرځیدی او بیرته راغلی ده وویل چې زیات وکم درې سوه کسان دي مګر ما ته لږ وخت راکی چې زه داوګورم چې د مسلمانانو د مرستی لپاره خوبه څوک په کمین کې پټ سوی نه وی نو عمیر بیا پر آس سپور سو او تر لیری لیری ځایه ولاړی او بیرته راغلی او دا یې وویل چې هیڅ کمین او مرسته نسته مګر اې قریشو زه چې دوئ ته ګورم دادمدینی اوښ سور مرګ پر ځان باندی بار کړی دی ددې خلکو پرته له خپلو تورو بل هیڅ پناه او مرسته کونکی نسته قسم په الله ﷻ زه په خپلو سترګو وینم چې دا خلک تر هغه وخت پوری نه وژل کیږی تر څو چې یې خپل مقابل لوری نه وی وژلی ، نو که زموږ مړی د هغوئ له مړیو سره برابر سی نو بیا د ژوند څه خوند پاته کیږی یو څه فکر او سوچ وکوی او څه تدبیر جوړ کې حکیم بن حزام وویل دا خوییخی ښه خبره ده او ولاړ سو عتبه ته ورغلی ورته وې ویل اې ابو الولید د قریشو مشره ته دا نه خوښوی چې د تل دپاره په خیر او نیکۍ سره یادسی ؟ عتبه وویل څه خبره ده ؟ حکیم وویل چې خلک بیرته ولیږه مکی ته او د عمرو بن حضرمی دوینی تویدو ذمه پر خپله غاړه واخله ، ؟عتبه ویل چې زه د عمرو بن حضرمی دوینی تویدو او دیت پر غاړه اخلم مګر له ابو جهل سره هم مشوره وکړه عتبه ولاړ سو او دا تقریر یې وکي :

دبدر په میدان کې دعتبه خبری اودبیرته ستنیدوغوښتنه

عتبه وویل اې قریشو قسم په الله عزوجل تاسو ته د محمد ﷺ او د هغه د ملګرو سره په جنګ کولو کې هیڅ ګټه نسته دا ټول ستاسو خپلوان دی پایله به داوی چې تاسو به خپل پلار او ورور او دا کازامن او د ماما زامن وژلی وی یو څو کاله انتظار وکوی محمد ﷺ او عرب پریږدی که عرب پر محمد ﷺ باندی بریالی سو نو ستاسو هدف سرته ورسیدی او که الله ﷻ محمد ﷺ ته غلبه ورکړه نو هغه هم ستاسو دقوم شخه دی د هغه بری ستاسو بری دی او زما خبره ومنی او ما ته سفیه او کم عقل مه وایاست ؟

حکیم بن حزام وایې : چې زه ابو جهل ته راغلم ابو جهل په دغه وخت کې زغره اغوستی او سلاح یې برابره کړی وه ما ورته وویل ، عتبه زه له دې پیغام سره رالیږلی یم ؟

ابو جهل خبیث ددې خبری په اوریدو له غصی تک سور سو ده وویل عتبه په دې وجه له جنګه ځان کاږی چې د هغه زوی ابو حذیفه رضی الله عنه د مسلمانانو سره دی دئ وایې هسی نه هغه ته څه تکلیف ورسیږی ، قسم په الله که موږ هیڅ وخت بیرته وګرزو تر څو چې الله ﷻ زموږ او د محمد ﷺ ترمینځ پریکړه نه وی کړی ، ابو جهل د عمرو بن الحضرمی ورور عامر بن الحضرمی راوغوښتی او ورته وې ویل چې دا ستا دوست عتبه د خلکو ستنیدل غواړی

سیف لودین کتابتون

اوستادورووینه ستاوسترګوته مخامخ ده عامر بن الحضرمی ددې خبرې په اوریدوسره سمدستی په لښکرکې (واه‌عمراه . واعمراه) های عمرافسوس عمر داناری پیل کی دده په نارو سره په ټول فوځ کې جوش اوجذبه راغله اوټول قریش دجنګ دپاره تیارسو (۱)

فاید ۵ ابوجهل دعمرو بن الحضرمی دمړینی یادول دخلکودجوش دپاره وویل که نه اصل مقصد دقریشوچی دقافلی خوندی کیدل وو چی دهغه دپاره قریش له مکی څخه راوتلی وو هغه خوترسره سوځکه دوئ دجنګ دپاره تیارنه وو اوګام پرګام دبیرته ستنیدو خبره اوبحث کیدی له دې امله دکوم علامه داګمان کول چی قریش یوائی دعلاء بن حضرمی دوینی بدلی اخیستودپاره په مدینه باندی دحملی کولوپه نیت راوتلی وو بالکل غلط اوبی بنیاده دی او دټولوروایاتوخلاف دی .

دبدرپه میدان کې جګړه پیل سوه ؟

دابوجهل دې پیغورورکونکی خبری دااثروکړ چی عتبه هم زغره واغوسته اودجنګ دپاره میدان ته راووتی دمشرکانوله ډلی څخه ترټولومخکې عتبه بن ربیعه خپل ورور شیبه بن ربیعه اوخپل زوی ولید راوایستل اومیدان ته راووتل اواوازیې وکړ اودمبارز غوښتنه یې وکړه

دمسلمانانوله فوځ څخه درې کسان دمقابلی دپاره ورووتل ، عوف بن حارث ؓ ، مُعوّذ بن حارث ؓ (۲) اوعبد الله بن رواحه ؓ ؟

عتبه پوښتنه څنی وکړه چی تاسوڅوک یاست ؟ دې صحابه کرام ؓ وویل (رهط من الانصار) موږ دانصارو ؓ له ډلی څخه یو عتبه وویل (مالنامن حاجة) یعنی زموږ له تاسوسره هیڅ کار نسته موږ دخپل قوم سره مبارزه کول غواړواوبل سړی بږغ وکی (یامحمد أخرِج الینا اکفائنا من قومنا) اې محمد ﷺ زموږ دقوم څخه زموږ همزولی زموږ دمقابلی دپاره راوباسه .

رسول الله ﷺ انصارو ؓ ته حکم وکی چی دجنګ له صفه راشاته سی اوعلی ؓ اوحمزه ؓ اوعبیده بن الحارث ؓ ته یې نامه په نامه میدان دوتلوپاره ارشادوکی ؟

دوئ درې واړه درسول کریم ﷺ دلاربښونی سره سم دمقابلی دپاره ووتل اوپرمخونوباندی نقاب وو په دې وجه عتبه وویل تاسوڅوک یاست عبیده ؓ وویل زه عبیده ؓ یم اوحمزه

---

(۱) زرقانی جلد ۱، صفحه ۴۱۶ ، سیرة ابن هشام جلد ۲، صفحه ۱۶،،

(۲) دعوف ؓ اومعوذ ؓ دپلارنوم حارث دی اودمورنوم یې عفراء دی ؓ عفراء هم صحابیه ده حافظ عسقلانی فرمایې : په عفراء کې یوداسی خصوصیت سته چی په بله صحابیه کې نه پیداکیږی هغه داچی عفراء ؓ لومړی نکاح له حارث سره وکړه اوله حارث څخه درې زامن پیداسو ، عوف ، معوذ ، معاذ ، دحارث څخه وروسته یې دبکیربن یالیل سره نکاح وکړه چی له هغه څخه یې څلورزامن پیداسو : : آیاس ،،عاقل ،، خالد ،، عامر ،،داووه سره زامن دعفراء ؓ په بدرکی شریک سوی درې دمخکی میړه زامن اوڅلوردویم میړه زامن ټول په بدرکې شریک سو نوداسی صحابیه چی دهغې اوه زامن په بدرکې شریک سوی وی یوائی عفراء ؓ دی ، زرقانی جلد ۱، صفحه ۴۱۶،،

رضي الله عنه وويل زه حمزه رضي الله عنه يم او علي رضي الله عنه وويل زه علي رضي الله عنه يم، عتبه وويل (نعم اكفاءٌ كرامٌ) ډير ښه تاسو زمونږ برابر همزولي او محترم خلک یاست.

دابن سعد په روايت کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ داسې وفرمایل:

قوموا يابني هاشم بحقكم الذى بعث الله به نبيكم اذ جاؤبباطلهم ليطفئو نورالله)

اې دهاشم زامنو ولاړسي په هغه حق سره په کوم چې الله تعالى ستاسو نبي رالیږلی دی خلکو باطل راوړی ددې لپاره چې دالله ﷻ نور مړ کی

دبدرپه میدان کې دعتبه اوشیبه اوولید وژل کیدل

تردي وروسته جګړه پیل سوه عبیده رضي الله عنه (۱) دعتبه په مبارزه کې راووتی او حمزه رضي الله عنه دشیبه او علي رضي الله عنه دولید په مقابله کې میدان ته راووتل، علي رضي الله عنه او حمزه رضي الله عنه خود خپل خپل مبارز سرونه په یوه یوه ګذار پریکړل مګر عبیده رضي الله عنه خپله هم زخمي سو او خپل مبارز یې هم زخمي کړ په پای کې عتبه پر عبیده رضي الله عنه باندی دتوری وار وکړ چې په هغه وار سره دعبیده رضي الله عنه پښه پرې سوه علي رضي الله عنه او حمزه رضي الله عنه دخپل مبارزی څخه خلاص سو دعبیده رضي الله عنه مرستی ته یې ورودانګل او دعتبه کاریې خلاص کی او عبیده رضي الله عنه یې راپورته کی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو دعبیده رضي الله عنه دپونډی له هډوکی څخه وینه روانه وه عبیده رضي الله عنه پوښتنه وکه یارسول الله ﷺ آیا زه شهید یم؟ رسول الله ﷺ وفرمایل هو په دې وینا باندی عبیده رضي الله عنه وویل کاشکی ابوطالب ژوندی وای نو یقین به یې کړی وو چې دهغه د دې شعر مونږ زیات حقدار یو:

وَنُسْلِمُ حَتَّى نُصَرَّعُ لَهُ ....وَنَذْهَلَ عَنْ اَبْنَائِنَا وَالْحَلَائِلِ(۲)

ابوطالب وایې: مونږ محمد ﷺ په هغه وخت کې دښمنانو ته سپارلی سو کله چې مونږ ټول تر هغه له مخه ووژل سو او دخپلو زامنو او ښځو څخه ناخبره یو.

او عبیده رضي الله عنه وروسته دا شعر هم ولوستی

فَاِنْ يقطعوار رجلى فَاِنِّي مُسْلِمٌ ....ارجى به عَيْشًا مِنَ اللهِ غَالِبًا

که کافرانو زما پښه پریکړه نو هیڅ غم نسته، ځکه ددې په بدله کې دالله ﷻ څخه ډیرلوړژوند تمه لرم یعنی دپښې دپریکیدلو سره داتلونکی ژوند پای ته رسیږی مګر ددې په بدله کې داسی ژوند ماته راکول کیږی چې هغه هیڅ کله نه ختمیږی

---

(۱) دادمحمد بن اسحق روایت دی چې وایې عبیده رضي الله عنه دعتبه او حمزه رضي الله عنه دشیبه مبارز، دموسی بن عقبه په روایت کې ددی برعکس راغلی دی چې عبیده رضي الله عنه دشیبه او حمزه رضي الله عنه دعتبه مبارز سو دسیرت ټول روایات پردی متفق دی چې علي رضي الله عنه دولید مبارز وو مګر دابوداؤد یو صحیح الاسناد روایت څخه دا معلومیږی چې علي رضي الله عنه دشیبه مبارز وو والله تعالى اعلم وعلمه اتم واحکم والتفصیل فی باب دعاء النبی ﷺ فی فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۲۱ وزرقانی جلد ۱، صفحه ۴۱۷،،

(۲) په یو روایت کی راغلی دی چې کله صحابه رضي الله عنهم داحالت ولید نو عبیده رضي الله عنه یې دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر کی عبیده رضي الله عنه دنبی کریم ﷺ پر پښو مبارکو باندی خپل بارخوګان کیښودل او دایې وویل یارسول الله ﷺ که ابوطالب ژوندی وای او مونږ یې لیدلی وای نو هغه به پوه سوی وو چې مونږ اصلا ددې شعر حقدار یو تردې خبری وروسته شهید سو، نبی کریم ﷺ وفرمایل، اشهدانک شهید،، زه شاهدی ورکوم چې ته شهید یې، رواه الشافعی، البدایه والنهایه جلد ۳، صفحه ۲۷۴،

سیف لودین کتابتون

وَأَلْبَسَنِي الرَّحْمٰنُ مِنْ فَضْلِ مَنِّهٖ .... لِبَاساً من الاسلام غَطَّى الْمُسَاوِيَاً

ولی به زه تمه نه لرم چې الله عزوجل ماته د خپلې مهربانۍ څخه د اسلام جامه را واغوسته او په جامه ټول گناهونه پټیږي .

له دې معلومه سوه چې پر کوم بدن باندي د اسلام او تقوی جامه نه وی هغه لوڅ دی د دنیا خلک که څه هم دا لوڅوالی نشي لیدای مگر د عالم غیب او سیدونکی دا لوڅوالی خا مخاویني حافظ ابن عبدالبر وایې کله چې لبید رضی الله عنه په اسلام مشرف سو نو دا شعر به یې لوستی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اِذْ لَمْ يَاْتِنِي اَجَلِي .... حَتّٰى اكْتَسَيْتُ مِنَ الْاِسْلَامِ سِرْبَالاً

ثنا او صفت دی هغه خدای جل جلاله لره چې تر هغه وخت یې ماته مرگ رانه وستی ، تر څو چې زه د اسلام په جامه پټ سوم

دا شعر هم د دې تائید کوی که دا وړ دوالی ویره نه وای نو د کتاب او سنت څو نور شواهد می را وړل علماء کرام خو په یو ځل کتلو سره پوهیږي .

فایده : عتبه او شیبه له دې امله هم له جنگ ځان کنبي چې یو خو د عاتکه خوب او بل د جهیم بن صلت خوب غمجن کړی وو او بل دا چې د مکې څخه د راوتلو په وخت کې دا هم پیښه سوه چې د دوئ مریئ عداس رضی الله عنه چې مخکې د نصرانیت پر دین وو او له طائف څخه د رسول الله ﷺ د راستنیدو په وخت کې عداس رضی الله عنه په اسلام مشرف سوی وو کله چې عتبه او شیبه د بدر د پاره روانیدل نو د تگ په وخت کې عدّاس رضی الله عنه د عتبه او شیبه پښي ونیولی او دوئ ته یې وویل :

(بابی وامی انتما والله انه لرسول الله وما تساقان الا الی مصارعکما) زما مور او پلار دی پر تاسو قربان وی قسم په الله جل جلاله هم دغه محمد ﷺ رښتني رسول دی او تاسو نه ځی مگر خپل د مرگ ځایو ته ځی ،،، عداس رضی الله عنه ژړل خو دوئ یې خبره نه اوریدله

عاص بن شیبه چې عداس رضی الله عنه په ژړا ولیدی نو پوښتنه یې وکړه چې ولې ژاړې ؟ عداس رضی الله عنه وویل چې زه د خپل بادار په وجه ژاړم چې د واړه د الله جل جلاله د رسول ﷺ سره د جنگ د پاره ځی ؟ عاص وویل آیا دا رښتیا د الله عزوجل رسول ﷺ دی ؟ عداس رضی الله عنه ورټوپ کړ او وایې وویل :

(ای والله انه لرسول الله الی الناس کافة) هو قسم په الله جل جلاله رښتیا هم محمد ﷺ د الله جل جلاله رسول ﷺ دی او ټولو خلکو ته رالیږل سوی دی ،د عداس رضی الله عنه دې خبری د عتبه او شیبه په زړه کې ځای ونیوی چې دا ټول خلک به وژل کیږی په دې وجه هم عتبه او شیبه د جنگ څخه ځان کنبي یوائې دا بوجهل د پیغور په وجه عتبه او شیبه ورمخکې سو ابوجهل به بیا بیا عتبه او شیبه ته د بیغیرتي او نامردی پیغور ورکوی په دې وجه تر ټولو د مخه دوئ د واړه میدان ته راووتل چې له ځانه د بیغیرتي پیغور لیري کړی ابو اسید رضی الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ د بدر په ورځ وفرمایل خپل غشي دوخت د پاره وساتی کله چې کافران پر تاسو باندی هجوم در وړوی او ښه در نږدې سی نو په هغه وخت کې غشي وویلی (بخاری شریف غزوه بدر)

سیف لودین کتابتون

دالله ﷻ په دربارکې رسول الله صلی الله علیه وسلم دبری دعاء وکړه

دعتبه اوشیبه تروژل کیدو وروسته دجنګ میدان تود سو رسول الله ﷺ له څپری دباندی راووتی اودصحابه ﷺ صفونه یې برابرول اوبیایې ابوبکرصدیق ﷺ له ځان سره ملګری کړ اوڅپری ته ولاړی اوسعدبن معاذ ﷺ دڅپرپه دروازه باندی توره په لاس ولاړوو رسول الله ﷺ چی کله دخپلوصحابه ﷺ اوملګرو لږوالی اوبیوسی اوددښمنانو ډیروالی اوزور ولیدی نوپرلمانځه ودریدی اودوه رکعته لمونځ یې وکی اوالله ﷻ ته یې زاری شروع کی : اودادعایې وغوښته (اَللهم انی انشرک عهدک ووعدک اللهم ان شئت لم تعبد) اې الله ﷻ زه ستادوعدی دوفاپوره کیدو غوښتنه کوم یاالله که ته غواړی نوستاعبادت به نه کیږی پررسو ل الله ﷺ باندی دخشوع اوخضوع عاجزی یوجلاکیفیت لویدلی وو دالله ﷻ په دربارکې به کله سرپرسجده اوزاری به یې کولی اوکله به یې دسوال ګر اوفقیرغوندی لاسونه وغوړل دفتح اوبری اومرستی غوښتنه به یې کوله دعاجزی داحالت وو چی له اوږومبارکویې پټو لاندی ولویدی .

له علی ﷺ څخه روایت دی وایې چی زه دبدرپه ورځ دجنګ له میدان رسو ل الله ﷺ ته راغلم هغه چی می ولیدی برپه سجده پروت دی اویاحیّ یاقیّوم وایې زه بیرته دجنګ میدان ته ولاړم اوپه جنګ کې پاته سوم اویوڅه وخت وروسته بیادرسول الله ﷺ ولوری ته راغلم بیامی په هغه حالت کې ولیدی درې ځله می پردغه حالت ولیدی څلورم ځل الله تعالی فتح اوبری ورکړ (رواه النسائی والحاکم فتح الباری باب قول الله تعالی ، اذتستغیثون ربکم په صحیح مسلم کې له ابن عباس ﷺ څخه روایت سوی دی چی عمرفاروق ﷺ ماته بیان کړی دی چی کله دبدر ورځ سوه رسول الله ﷺ چی مشرکین ولیدل زر۱۰۰۰کسان دی اودرسول الله ﷺ ملګری تردرې سوه ۳۰۰ لږڅه زیات وو نوهغه څپری ته تشریف یووړی اوقبلی ته مخامخ سو دالله ﷻ په دربارکې یې ددعادپاره لاسونه وغوړول اودادعایې وغوښته (اللهم انجز لی ماوعدتنی اللهم ان تهلک هذه العصابة من اهل الاسلام لاتعبد فی الارض) اې الله ﷻ تاچی له ماسره وعده کړی ده هغه پوره کی اې الله ﷻ که دمسلمانانوداوړوکی ټولی هلاک سی نوبیابه په ځمکه ستاعبادت نه کیږی ..

ځکه نبی کریم ﷺ خاتم النبیین دی اوداامت اخری امت دی که خدانخواسته هغه اودهغه صحابه ﷺ شهیدان سوی وای نوبیاپه ځمکه باندی هیڅوک دالله ﷻ عبادت کونکی نه پاته کیدو دغه رنګه ددې دعاء څخه داهم معلومیږی چی دبری اومرستی غوښتنه یوائی دمسلمانانو دساتلودپاره نه وه بلکې ددې دپاره چی په ځمکه باندی دالله ﷻ عبادت اوبندګی پاته سی داسی ونه سی چی ځمکه دالله ﷻ دعبادت څخه خالی سی رسول الله

سیف لودین کتابتون

ﷺ تر ډیره وخته لا سونه غوړیدلی نیولی وو او دغه دعایې کوله چې یا الله ﷻ که دا وړکی ټولی هلاک سی نو بیابه په ځمکه باندی ستا عبادت نه وی په دې حالت کی یې څادر مبارک له اوږی مبارکی څخه ولویدی اودشا لوری ته راغلی او په ملا مبارکه پوری وموښتی (دادصحیح مسلم روایت دی)

دبخاری په روایت کې راغلی دی چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه درسول الله ﷺ لاس مبارک ونیوی اوغوښتنه یې ځنی وکړه (حَسْبُکَ فَقَدْ الْحَحْتَ عَلَی رَبِّکَ)بس ده اوکافی ده رښتیاهم تادالله ﷻ په دربارکی ډیری زاری وکولی بس دی .

درسول الله ﷺ نظر دالله ﷻ پر عظمت اولوی اوداستغناء په شان اوبی نیازی باندی وو لکه الله تعالی چې فرمایې وَمَنْ جَاهَدَ فَإِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهِ إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ (۶) آیت العنکبوت سورة او بل ځای الله تعالی فرمایې : يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ * إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ } [فاطر : ۱۵، ۱۷]

له دی کبله یې ترسترګو مبارکو څخه دژړا چینی روانی وی خو دابوبکرصدیق رضی الله عنه درسول الله ﷺ په دې عاجزانه زاریو سره دا یقین سو چې دهغه دعا قبوله سوه لکه الله تعالی فرمایې :

أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ (النمل سورة آیت ۶۲)

لنډه دا چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه درجاء او امید په مقام کې وو اورسول الله ﷺ دخوف اوویری په مقام کی وو

دیوی شکمنې خبری ځواب :

شکه خو دا دی چې کله دالله تعالی له لوری دبری اومرستی ژمنه سوی وه نو رسول الله ﷺ ولی دومره پریشانه وو ؟

ځواب : دادی چې دالله ﷻ له لوری دبری اومرستی ژمنه کوتاه وه هیڅ وخت او ځای او هیڅ پیښنه اودپیښې ځای معلوم نه وو اودرسول الله ﷺ نظر دالله ﷻ دبی نیازی و شان ته وو چې هغه مالک مطلق دی څه چې غواړی هغه کوی ، دربوبیت دمقام ادب دادی چې له وعدی سره سره باید بنده له الله ﷻ څخه ویریږی دبنده کار غوښتنه دی الله عزوجل چې څه ورکړی هغه دالله عزوجل خپل فضل او انعام دی او که دمرستی دژمنی وخت معلوم هم وای نوبیا داا حتمال سته چې کیدای سی چې دهغې ژمنی پیښیدل اوموجود یدل په داسی پټو اسبابو او شرطو باندی تړلی وی چې الله عزوجل دڅه حکمت اومصلحت په وجه خپل پیغمبر ﷺ هم نه وی خبر کړی لکه الله تعالی چې فرمایې (وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ) پر الله تعالی باندی واجب نه دی چې دکومی پیښې اودکومی ژمنی په اسبابو اوشرا یطو انبیاء علیهم السلام خبر کړی ځکه دحکمت غوښتنه داوی چې اصل حقیقی پټ راز دبنده له نظره پټ پاته سی ددې دپاره چې دالله تعالی عظمت او هیبت او بی پروایې هیره نه کې .

سیف لودین کتابتون

نو دانبیاء علیهم السلام داسی دمجبوری اواحتیاج دعاغوښتل په دې وجه نه وی چی ددوئ دالله عزوجل پرژمنه باندی باور نه وی بلکې دالله ﷻ څخه دبې پروایې ویره پرهغوئ باندی غالبه وی (دابیان له مدارج النبوة رااخیستل سوی دی)

اودصحیح مسلم په روایت کې راغلی دی چی ابوبکرصدیق رضی الله عنه غوښتنه وکه چی بس دی یارسول الله ﷺ له الله ﷻ څخه ستاداغوښتنه بس دی رښتیابه هم الله ﷻ له تاسره خپله ژمنه هرومرو پوره کوی .. په دې اړه داآیت نازل سو :

إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ (۹) وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِ قُلُوبُكُمْ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (۱۰) آیت سورة الانفال)

هغه وخت دریادکي کله چی تاسو الله عزوجل ته فریادکوی بیا الله تعالی ستاسودعاء قبوله کړه چی زه ستاسوپه یوزرملائکه ووسره مرسته کوم چی یوپه بل پسی به راتلونکی وی اودامرسته نه دی رالیږل سوی مگریواځی ستاسودخوشالۍ اوزیری دپاره اوددې دپاره چی ستاسو زړونه ډاډه سی اوپه حقیقت کې مرسته نه ده سوی مگر دالله ﷻ له لوری یقیناً الله غالب اوحاکم ذات دی ،،

دصحیح بخاری په روایت کې راغلی دی چی رسول الله ﷺ په دغه وخت کې له څپری راووتی اوپرژبه مبارکه یې داآیت وو (سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ (۴۵) آیت سورة القمر)

نژدی ده چی دکافرانوداډله به ماته وخوری اوشاوی به واړوی او وبه تښتی .

دابن اسحق په روایت کې راغلی دی چی ددعاپه غوښتلو کې په نبی کریم ﷺ باندی خوب راغلی لږساعت وروسته راویښ سو اوابوبکرصدیق رضی الله عنه ته یې وفرمایل :

(ابشریاابابکر اتاک نصرالله هذاجبریل آخذبعنان فرسه یقوده علی ثنایاه الغبار (۱)

اې ابوبکر رضی الله عنه خوشاله سه دالله تعالی مرسته راورسیده داجبرئیل علیه السلام دی دآس واگې یې نیولی دی دهغه پرغاښوگرځ اودوړی پرتی دی .

دمسلمانانو دمرستي لپاره له اسمان دفرشتو راکښته کېدل

لومړی الله ﷻ زر ۱۰۰۰ اوبیادرې زره ۳۰۰۰ اوپه وروسته کې پنځه ۵۰۰۰ زره ملائکی دمسلمانانو دمرستی لپاره راکښته سوی ،

باریکی : څنگه چی دبدرپه جنگ کې دکفارواومشرکینو دمرستی لپاره ابلیس لعین له خپل لښکرسره حاضرسوی وو په دې وجه الله تعالی دمسلمانانو دمرستی لپاره جبرئیل اومیکائیل اواسرافیل علیهم السلام په مشری له اسمان دملائکولښکر راکښته کی شیطان په خپله دسراقه بن مالک په شکل کې له دوئ سره ملگری وو اودده لښکر دبنی مدلج دخلکوپه شکل کې ښکاره سو لکه چی په دلائل بیهقی اودلائل ابی نعیم کې له ابن عباس رضی الله عنه څخه داروایت سوی دی (۲)

(۱) فتح الباری جلد ۷ ص/ ۲۴۲ ،عیون الاثرجلد ۱ ص/ ۳۵۵) ـــــ (۲) خصائص کبری جلد ۱ ص/ ۱۰۴)

سیف لودین کتابتون

په دې وجه فرښتې دخلکو په شکل ښکاره سوې لکه چې علامه سهیلي او امام قرطبي ددې تصریح کړې ده (۱) او دکومو کسانو د مرستې او کومک دپاره چې له اسمان څخه ملائکې راښکته سوې هغه که څه هم صورةً انسانان وو مګر معنی فرښتې وې او بېشکه دهغوئ مصداق دا شعر وو : نقش آدم لیک معنی جبرئیل.........رستہ از جملہ ہوا و قال و قیل

ابواُسید ساعدي ﷺ چې له بدرینو صحابه وو څخه دی فرمايي : چې دبدر په ورځ فرښتو شین رنګه پټکي تړلي وو شملې يې داوږو په مینځ کې وې (رواه ابن جریر باسناد حسن او همداسې ابن ابی حاتم له زبیربن عوام ﷺ څخه روایت کړی دی او زبیر ﷺ په خپله هم دبدر په ورځ شنه لنګوټه یا پټکي تړلي وو .

له یو شمیر روایاتو څخه معلومیږي چې دفرښتو دلنګوټو رنګ تور وو او دبعض بیا وايي چې سپین وخو حافظ سیوطي وايي چې دصحیح روایتو څخه دا ثرګندیږي چې دلنګوټو رنګ شین وو دتور او سپین رنګ په اړه چې څومره روایتونه دي هغه ټول ضعیف دي (۲) او دا هیڅ عجیبه نه دي چې دملائکه وو دلنګوټو شین رنګ دمسلمانانو دخوشالۍ دپاره ورکړل سوی وي ځکه په شنه رنګ خوشالي پیدا کیږي کما قال الله تعالی

(صَفۡرَاءُ فَاقِعٌ لَّوۡنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّـٰظِرِينَ (۶۹) آیت سورة البقرة) لیدونکو ته خوشالي ورکوي ..

لنډه دا چې الله تعالی دمسلمانانو د مرستې لپاره دملائکه وو لښکر له اسمانه راکښته کې لومړئ خو یوائې دفرښتو راښکته کیدل دخیر او برکت سبب وو لکه دحنین په غزاکې چې یوائې دفرښتو راښکته کیدل دبرې سبب سو دا بیان په راتلونکو پاڼو کې راځي انشاء الله دویم دا الله عزوجل پیرزوینه داوه چې الله تعالیو ملائکو ته وفرمایل چې مسلمانانو ته په روحاني ډول باندې قوت او مرسته ورسوي لکه الله تعالی چې فرمايي :

إِذۡ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمۡ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ (۱۲) آیت سورة الانفال)

هغه وخت یاد که چې کله الله تعالی ملائکه وو ته حکم وکړ چې زه ستاسو سره یم تاسو دمؤمنانو په زړو کې ثبات او استقامت واچوی

لکه څنګه چې الله شیطان ته په زړه کې دوسوسې اچولو توان ورکړی دی دغه رنګه يې فرښتو ته هم په زړو کې دښو خبرو اچولو توان ورکړی دی چې هغه ته لمّه او الهام وايي ، نو فرښتو دمسلمانانو په زړو کې دا الله ﷻ څخه دسرغړونکو په مقابله کې سرقربانوونکو ته دا واچول چې تاسو دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ څخه دسرغړونکو په مقابله کې ثابت قدم واوسیږي ښه پالونکي او ښه مرستندوئ ستاسو ساتونکي او مرسته کونکي دي او دفرښتو لښکر ستاسو دمرستې دپاره دي بیا څه فکر او څه غم دی دبرې او ماتې راز دزړو په قوت او کمزورۍ باندې بنا دی دغه رنګه يې دمسلمانانو زړونه محکم او مضبوط کړه

(۱) روض الانف جلد ۲ / ——— (۲) زرقاني جلد ۱ /ص / ۲۴۴)

سیف لودین کتابتون

دریم :دالله ستره مرسته داوه چې الله عزوجل فرشتوته دمسلمانانوله دښمنانوسره دجهادامروکړ.
څلورم انعام دالله ﷻداوو چې الله عزوجل فرشتې دصحابه ؓ وومرسته کونکې کړې اصل جهادکونکې صحابه ؓ وو فرشتوددوی پیروی وکړه لکه چې مُمِدکم لفظ ودې ته اشاره کوی.
پنځم داووچې دکافرانوپه زړوکې یې دمسلمانانوویره واچوله لکه چې الله عزوجل فرمایې سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ (۱۲آیت سورة الانفال)

ملائکه وو ته دجهاد اوجنګ طریقه وښودل سوه

فرشتوته دانسانانوپه شیردوژلوطریقه نه وه معلومه نوپه دې وجه الله تعالی هغوئ ته دوژلوطریقه وښودله او ورته وې فرمایل (فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ (۱۲) آیت سورة الانفال) اې ملائکو کافران پرڅټ باندی ووهی اودوئ بندپربندپریکړی .
له ربیع بن انس ؓ څخه روایت سوی دی وایې چې دبدرپه ورځ دملائکووژلی سوی دانسانانوله وژل سویوڅخه جلاپیژندل کیدل ځکه دملائکوپه لاس وژل سوی پرڅټ اوبندو باندی داوړتوری نښې وی (فتح الباری باشهودالملائکه بدر)
په صحیح مسلم کې له ابن عباس ؓ څخه روایت سوی دی چې یومسلمان سړی په یومشرک پسی سو له لوړی خوادیوه سپوآواز وسو چې اې حیزوم (۱) مخکې ولاړسه، وروسته ماهغه مشرک ولیدی هغه پړمخې پرځمکه پروت دی اودهغه پوزه اومخ دچلاخې په وهلوسره تک شنه سوی وو هغه انصاری ؓ راغلی اوټوله پیښه یې رسول الله ﷺ ته بیان که رسول الله ﷺ وفرمایل چې تارښتیاوویل دا دریم آسمان مرسته اوکومک وو(۲) په صحیح بخاری کې له ابن عباس ؓ څخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ دبدرپه ورځ داسی وفرمایل(هذاجبریل آخذ برأس فرسه علیه اداة الحرب) داجبرئیل علیه السلام دی چې دآس واګې یې نیولی دی اودجنګ سامان ورسره دی (بخاری شریف باب شهودالملائکه بدرًا)
دسهل بن حنیف ؓ څخه روایت دی چې دبدرپه ورځ موږ ولیدل چې له موږڅخه به یوچامشرک ته اشاره کوله نومخکې تردې چې دده توره وهغه ته ورسیږی دهغه مشرک سربه پرځمکه غوځ سوی پروت وو (حاکم ددی حدیث روایت کړی دی اوحاکم اودهغه شاګرد بیهقی اودغه رنګه ابونعیم دی حدیث ته صحیح ویلی دی (۱)
سهل بن سعدوایې چې ابواُسید ؓ ماته داسی وویل چې اې ورارہ که مااوتااوس په بدرکې وای نومابه تاته دغره هغه کنډو ښودلی وو له کومه ځایه چې فرشتی زموږ دمرستی لپاره راوښتلی اوپه هغه کې هیڅ شک نسته (رواه الطبرانی وفیه سلامة بن روح وثقه ابن حبان وضعفه غیره)

(۱) حیزوم دجبرئیل علیه السلام دآس نوم دی ،زرقانی جلد۱ /ص /۴۱۶)
(۲) فتح الباری جلد ۷ /ص /۲۴۲) (۳) زرقانی جلد۱ /ص /۴۲۷)

سیف لودین کتابتون

لنډه خبره داده چې دبدرپه غزاکې دمسلمانانودمرستی لپاره له اسمان فرشتې رانښکته سوې اوله مسلمانانو سره ملګرې سوې اودهغوئ سره اوږه په اوږه جهاد اوجنګ وکړ داپه آیا ت قرآنیه اواحادیث نبویه سره صراحةً ثابت دی چې په هغه کې وهیچاته دنه منلواوشک ځای نه دی پاته..

دفرشتوپرآسانوسپریدل داهم له ډیرورواياتومعلومیږي په یوشمیرروایاتوکې راغلی دی چې پربرګ آسانوباندی سپاره وو (۱)

له ابن عباس ﷺ څخه روایت سوی دی چې ملائکوپرته له بدرپه بل هیڅ ځای کې جنګ نه دی کړی اودمسلمانانودتائید اوقوت اودټولی دډیروالی اوډاډ اوآرام دپاره دملائکو رانښکته کیدل په نوروځایوکی هم ثابت سوی دی مثلاً دحنین په غزاکی دملائکو را ښکته کیدل په سورت توبه کې یادسوی دی لکه الله تعالی چې فرمایې :

وَأَنْزَلَ جُنُودًا لَمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ (۲۶سورة التوبه)

اوداسی لښکرېې راکښته کی چې تاسونه لیدی ،،

مګر دبخاری اومسلم په یوروایت کې دأحدپه غزاکې هم دجبرئیل ﷺ اومیکائیل ﷺ دجنګ کولویادونه سوی مګر هغه جنګ دټولو مسلمانانودمرستی دپاره نه وو بلکې یوائې درسو ل الله ﷺ دساتنی اوحفاظت دپاره وو (۲)

ولې فرشتې دلښکرپه صورت رانښکته سوی ؟

ځواب : ځکه دادنیاداسبابو کوردی په دې وجه الله تعالی ﷻ داسبابوپه رعایت سره فرشتې دلښکر په صورت کې دمسلمانانودمرستی دپاره راکښته کړی که داسی نه وی نودټولودپاره یوه فرشته بس وه ځکه اصل فاعل خوالله تعالی دی مګر په دې دنیاکې دهغه دقدرت ښکاره کیدل داسبابو اوواسطو په ذریعه سره کیږی په دې وجه دعالم الاسباب دطریقی برابرېې دفرشتو لښکردمسلمانانو دمرستی لپاره راولیږی (۳)

رسول الله ﷺ دخیرڅخه دباندی راووتی اودجهاداوجنګ ترغیب یې ورکړ اووې فرمایل چې قسم په هغه ذات چې دهغه په لاس کې دمحمد ﷺ ساه ده نن چې کوم سړی په صبر او حوصله اخلاص اوربښتینی نیت سره دالله ﷻ له دښمنانوسره په ازاده سینه وجنګیږی اوبیادالله ﷻ په لاره کی ووژل سی الله تعالی به هرومرو هغه جنت ته داخلوی، دعمیربن حمام ﷺ په لاس کې خورماوی وی نوموړئ ددې خورماپه خوراک بوخت ووکله چې ده ناڅاپه داخبره واوریده نوددې په اوریدوسره سم یې وویل (بخ بخ فمابینی وبین ان ادخل الجنة الاان یقتلنی هؤلاء) واه واه زما اودجنت ترمینځ بل څه نسته یوائې داپاته دی چې داخلک ماووژنی ،اوسمدستی یې خورماوی له لاسه وغورزولی اوتوره یې راپورته که

سیف لودین کتابتون

او داسې جګړه يې پيل کړه چې صفونه يې څيرې کړه او وجنګيدی ترڅو چې شهيد سو، رضی الله عنه ورحمة الله عليه (۱)

عوف بن حارث ﷺ (۲) پوښتنه وکړه چې (يارسول الله مايضحک (۳) الربّ من عبده)

اې د الله ﷻ رسول ﷺ الله تعالى د بنده کوم شئ خندوی يعنی خوشاله کوی؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: د بنده لوڅ کيدل او د الله ﷻ د دښمن په وينه سره خپل لاس رنګول عوف ﷺ د دې خبرې په اوريدو سره زغره وغورزوله او توره يې واخيسته او جګړه يې په پيل کړه ترڅو چې شهيد سو، رضی الله عنه و رحمة الله عليه،،

د ابو جهل دُعا او قريش د جنګ لپاره پارول

د عتبه، شيبه، او وليد تروژل کيدو وروسته ابو جهل خلکوته وويل همتونه لوړ کی او دلاوره سی او جنګ ته تيارسی، اې خلکو د عتبه او شيبه او وليد په وژول کيدو سره مه ويريږی دې خلکو تلوار وکړ قسم په لات او عزی موږ به هيڅ کله ترهغه وخته نه ځو ترڅو چې مو دوئ په رسيو پروتړلی نه وی وروسته ابو جهل له الله ﷻ دا دُعا وغوښتله: اې الله ﷻ په موږ کې چې څوک خپلوی پريکوی او ناروا کارونه کوی هغه هلاک کی او په موږ کې چې کوم يو ستا په نزد ترټولو خوښ وی نن هغه ته بری او فتح ورکړی، په دې اړه دا آيت نازل سو: إِنْ تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ وَإِنْ تَنْتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَإِنْ تَعُودُوا نَعُدْ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ (۱۹) آيت سورة الانفال)

که تاسو د فتحی غوښتنه کوی نو رښتيا هم تاسو ته فتحه راغله او که په راتلونکې منع کيږی نو ستاسو د پاره ښه ده او ستاسو ډله ذره برابر تاسو ته په کارنه درځی که څه هم هغه ډله هرڅومره زياته هم وی او رښتيا هم الله تعالى د مؤمنانو سره دی..

(اخرجه ابن اسحق والحاكم وصححه والبيهقى عن عبدالله بن ثعلبة بن صغير خصائص كبرى جلد ۱، صفحه ۲۰۳، زاد المعاد جلد ۲، صفحه ۶۹ وقال ابن كثير اخرجه الامام احمد والنسائى ورواه الحاكم ثم قال صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه البدايه والنهايه جلد ۳، صفحه ۳۸۲)

په دلائل بيهقی او دلائل د ابو نعيم کې له ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې د ابو جهل له دعاء وروسته رسول الله ﷺ د دعا د پاره لاسونه پورته کړل او دا دعا يې وغوښتله اې ربه که

---

(۱) ابن هشام جلد ۲ ص/۱۸، طبقات ابن سعد جلد ۲ ص/۱۶)

(۲) د عوف ﷺ د پلار نوم حارث دی او د مور نوم يې عفراء ﷺ دی يعنی د معاذ ﷺ او معوذ ﷺ ورور دی)

(۳) يعنی په کوم کار چې بنده ته د الله ﷻ ډيره رضا په لاس ورسی او په کوم ځای کې چې په خوشالی سره زيرئ او خوشالی او مينه ښکارول مقصود وی په هغه ځای کې ضحک استعماليږی د دې لپاره چې پر ډيره خوشالی او ډيره رضا او ډير محبت باندی دلالت وکوی څکه ډير وخت خپل باداړ له مريی خوشاله وی مګر هغه نه ورته ښکاره کوی، د ضحک لفظ د خوشالی او د هغې په ښکاره کولو دواړو باندی دلالت کوی لکه چې د طلحه بن براء ﷺ په اړه په حديث کې راغلی دی (اللهم الق طلحة يضحک اليک وتضحک اليه) يا الله ﷻ له طلحه ﷺ سره په داسې حال کې ملاقات وکوی چې هغه تا ته خاندی او ته هغه ته خاندی. يعنی داسې ملاقات ورسره وکوی چې ډيره رضا او ډير محبت ځنی ښکاره کيږی د الله ﷻ د ضحک همدا معنی دی، فافهم (روض الانف جلد ۲ ص/۶۹)

سیف لودین کتابتون

خدانخواسته دا ډله هلاک سی نو بیا به په ځمکه هیڅ کله ستا عبادت نه کیږي ،،
یوې خواته ابوجهل دعاغوښته او بلې خواته رسول الله ﷺ لاس په دعا ولاړو وو تردې وروسته د دواړو لښکرو ترمینځ جګړه پیل سوه په دغه وخت کې رسول الله ﷺ د څپرۍ څخه د باندې راووتی او صحابه ﷺ ته یې د جهاد او شهادت ترغیب ورکوی او داسې یې وفرمایل : چې کوم سړی چې دالله ﷻ په لارکې ووژل سی الله تعالی به هغه جنت ته داخلوی (۱) تردې وروسته رسول الله ﷺ د جبرئیل آمین ﷺ په اشاره یو موټی (۲) خاوری د مشرکینو پرمخ وپاشلې په مشرکینو کې داسې څوک نه سو پاته چې د هغه وسترګو او پوزه او خولې ته دې دا خاوره نه وی رسیدلې الله ﷻ په دې یوه موټی خاورو کې دومره زور کیښودی چې دهغه په پاشلو سره دښمن وتښتیدی په دې باره کې دا آیت نازل سو :
وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى (۱۷) آیت سورة الانفال) تا ویشتل نه دی کړی په حقیقت کې کله چې تا ویشتل و کول مګر الله تعالی وویشتل .
یعنی په ښکاره خو رسول الله ﷺ یو موټی خاوره وروپاشلې مګر پرزر کسه لښکر باندی او دهریوه سترګو او پوزه ته د یو موټی خاوری رسیدل د رسول الله ﷺ کار نه وو بلکې دا دالله تعالی کار او دهغه د قدرت یوه نمونه وه .
کله چې جګړه پرسخته سوه نو رسول الله ﷺ درې ځله دا الفاظ وویل (شاهت الوجوه) مخونه دې تور سی او دشګو یو موټی یې د قریشو و لوری ته وپاشی او صحابه ﷺ ته یې د حملې حکم وکړ دسترګو په رپ کې دالله ﷻ د دښمنانو په خیرو باندی د ښکاره او معنوی ذلت ګرځ پریوتی او سترګی یې سره وموښتې له دې خوا مسلمانانو حمله پر وکړه ابن شهاب زهری او عروه بن زبیر فرمایې : چې الله تعالی دهغه موټی خاوری په برکت یو عجیب حالت جوړ کی هرسړی سرتیټی او حیران وو چې چیری او کومی خواته تیښته وکوی ،
دې یو موټی خاوری پاشل قریش ټول پریشان کړل او لوی لوی پهلوانان او غښتلی د مرګ په کنده کې بندیان سو او مسلمانان دالله د ﷻ د دښمنانو په وژلو او نیولو بوخت وو رسول الله ﷺ په څپره کې تشریف درلودی او سعد بن معاذ ﷺ په دروازه کې توره په لاس ولاړ وو د رسول الله ﷺ پیره یې کوله رسول الله ﷺ ولیدل چې صحابه کرام ﷺ د قریشو په راګیرولو بوخت دی او د سعد بن معاذ ﷺ پرمخ باندی د ناخوښی نښې ښکاره سوی رسول الله ﷺ وفرمایل اې سعد ﷺ کیدای سی ستا د قریشو ګیرول نه وی خوښ ، سعد ﷺ وویل

(۱) زرقانی جلد ۱ /ص / ۴۲۷، تاریخ ابن اثیر جلد ۲ /ص / ۴۷)
(۲) دیو موټی دخاورو پاشلو پیښه په معجم طبرانی کې له حکیم بن حزام او ابن عباس ﷺ څخه روایت سوی حافظ هیثمی رحمه الله وایې چې د حکیم بن حزام ﷺ د روایت سند حسن دی او د ابن عباس ﷺ د روایت رجال د بخاری رجال دی (مجمع الزوائد جلد ۶ /ص / ۸۴)

سیف لودین کتابتون

(اجل والله یارسول الله کانت اول وقعة اوقعها الله تعالی باهل الشرک فکان الاثخان فی القتل احب الی من استبقاء الرجال)

هو قسم په الله عزوجل یارسول الله ﷺ دالومړی پیښه ده چې الله تعالی پرمشرکینو باندې نازل کړه ده زما په نظر د مشرکینو وژل او وینه تویول د دوئ ترژوندي پریښودو ډېر ښه دي.

د چاژړونه چې دالله ﷻ دیوالي څخه ډک سوي وي دهغوئ په زړوکې له الله ﷻ سره د شرک کونکو لپاره چیرې دومره ځای کیدای سي

اوالله تعالی فرمايي: چې شرک نه ښښل کیږي :إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا (۴۸) آیت سورة النساء)

په تحقيق سره الله تعالی شرک کونکي نه بخښي خوهغه ګناه چې ترشرک په کمه درجه کي وي هغه ښښل کیږي دچادپاره چې وغواړي اوڅوک چې دالله ﷻ سره شریک ونیسی رښتیا هم هغه ډیر غټ جرم وکړ:

دابن عباس ؓ روایت دی چې رسو ل الله ﷺ به ډیر ځله داسي فرمایل: چې دبني هاشم اونوروقبیلوڅخه څه خلک په خپله خوښه نه بلکې دقریشو په زور اوجبرسره راغلی دی هغه دې نه وژل کیږي موږته دهغوئ دوژلوضرورت نسته له دې کبله په تاسوکې چې څوک ابوالبختري بن هشام اوعباس بن عبدالمطلب وموندل نومه يې وژنی له دې امله صحابه ؓ دوژلوپرځای دهغوئ په بندی کولوبوخت سوخوکله چې مجذربن زیاد انصاری ابوالبختري ولیدی نووې ویل چې رسول الله ﷺ موږستاله وژلومنع کړی یو دابوالبختري (١) سره یوملګری هم وو چې دمکی څخه دهغه سره راغلی وو دهغه نوم جناده بن ملحیة وو ابوالبختري وویل زماملګری هم نه وژل کیږي ؟ مجذر ؓ وویل نه هیڅکله ستاملګری نه پریښودل کیږي رسول الله ﷺ موږته یوائی ستادنه وژلو حکم کړی دی ، ابوالبختري وویل قسم په الله که داامکان لری چې زه دې خپل ملګری پریږدم صبابه دمکی ښځي ماته پیغورراکوی چې یوائي دخپل ځان دخلاصون دپاره يې خپل ملګری پریښودی اودارجزيې ولوستی اوحملی ته را وړاندې سو :

لَنْ يُسْلِمَ ابن حُرَّةٍ زَمِيلَهُ.................حتی یموتَ اویرَی سَبِيلَهُ

یوعزت مندسړی دخپل ملګری دمرستی هیڅکله لاس نه پورته کوی ترڅو چې یامړسی یاخپله لاروويني.

(١) ابوالبختري که څه هم په اسلام نه وومشرف سوی مګرپه مکه مکرمه کې درسول الله ﷺ مرستندوئ اوحامی وو نبی کریم ﷺ نه دابوالبختري له لوری هیڅکله هیڅ تکلیف اوضررنه دی رسیدلی اودقریشوظالمانه پړنکړی پاڼه چې په کعبه کې زوړندسوی وه دهغې په ماتولوکې همده ګام پورته کړ(سیرة ابن هشام جلد ٢ /ص/ ١٥، البدایه والنهایه جلد ٢ /ص/ ٢٨٥)

سیف لودین کتابتون

ابوالبختری د مبارزی د پاره راوړاندی سو مجذر رضی الله عنه د توری وار پر وکړ او وژوندیې پای ته ورسیدی مجذر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په خذمت کې حاضر سو او رسول الله ﷺ ته یې وویل: والذی بعثک بالحق جهدت ان یستأسر فآتیک به فابی الاان یقاتلنی فقاتلته فقتلته) قسم په هغه پاک ذات چی ته یې په حق سره رالیږلی یې ډېر زیاتی هم ما پوره کوښښ وکی چی ابوالبختری بندی سی او زه هغه ستا په خذمت کی وړاندی کم مگر هغه و نه منله مقابله یې وکړه نو ما ووژی

دامیه بن خلف او د هغه دزوی وژل کیدل

امیه بن خلف د رسول الله ﷺ له سختو دښمنانو څخه وو په کوم وخت کی چی د بدر د جنګ هیڅ فکر هم نه کیدی په هغه وخت کې ده د سعد بن معاذ رضی الله عنه له ژبی څخه په مکه کې د خپل وژل کیدو وړاندوینه اوریدلی وه په دې وجه د بدر جنګ له شریک کیدو څخه ډیر ځان شاته کی خو ابوجهل وویل (ادرکوا عیرکم) د خپلی تجارتی قافلی خبر واخلی یعنی دابوسفیان د قافلی خبر واخلی

خلک یې جګړی ته تیار کړه امیه ځان ځنی وکیښ ابوجهل وویل اې ابوصفوان ته د دې سیمی مشر یې ستا په نه تګ سره به نور خلک هم پاته کیږی هغوئ به هم ځان له جګړی کاږی ابوجهل خبیث ډیر ټینګار پر وکی امیه مجبور سو چی بدر ته ولاړ سی نو امیه وویل قسم په الله زه به ډیر تیز رفتار اوښ رانیسم د دې د پاره چی کله وخت په لاس راسی نو له لاری به بیرته راګرزم او خپلی ښځی ام صفوان ته یې وویل چی زما د سفر سامان تیار که ام صفوان ورته وویل آیا تا ته د خپل یثربی ورور خبره نه ده یاده چی ته به د محمد ﷺ د ملګرو په لاس وژل کیږی؟ امیه وویل نه زما په یاد ده زما د تګ اراده نه ده تر لږ ځایه به ولاړ سم او کله چی وخت په لاس راسی بیرته به راوګرزیږم په دغه فکر او سوچ تر ټولو منزلو تیر سو او د بدر میدان ته راورسیدی (بخاری شریف من یقتل ببدر) (۱)

کله چی د بدر میدان ته راغلی نو د بلال رضی الله عنه سترګی پر ولګیدی امیه به په مکه کې بلال رضی الله عنه پر ګرمو ډبرو اچوی او پر سینه به ور کښیناستی او د اسلام څخه د اوښتو غوښتنه به یې ځنی کوله، کله چی بلال رضی الله عنه ولیدی نو له انصارو رضی الله عنهم یې مرسته وغوښتله عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه د جاهلیت په وخت کې د امیه دوست وو هغه غوښتل چی امیه ونه وژل سی بلکې بندی سی کیدای سی الله تعالی ده په وجه سره هدایت ورته وکوی او له همیشنی عذاب څخه وساتل سی امیه د عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه لاس ونیوی، بلال رضی الله عنه چی کله ولیدی ناره یې وکه ونیسی د کفر سردار امیه ونیسی زه به ژوندی نه پاته کیږم که امیه ژوندی پاته سو عبدالرحمن رضی الله عنه د امیه زوی ورمخ ته کړ انصارو رضی الله عنهم هغه ووژی او امیه ته یې رامنډی کړی عبدالرحمن رضی الله عنه پر امیه بالا پریوتی مګر انصارو رضی الله عنهم په همدې حالت کې له لاندی خوا په

(۱) فتح الباري جلد ۷ ص / ۳۲۱

سيف لودين كتابتون

تورو ووهی اوامیه یې ووژی په دې وخت کې دعبدالرحمن ؓ پښه هم ژوبل سوه اوترډیره وخته دهغه زخم نښه پاته وه عبدالرحمن بن عوف ؓ به ویل الله تعالی دی پر بلال ؓ رحم وکوی زمازغری هم ولاړی اوزمابندی هم له لاسه ووتی (صحیح البخار)

دبدرپه میدان کې دالله ﷻ ددښمن اوددې امت دفرعون ابوجهل وژل کیدل

عبدالرحمن بن عوف ؓ فرمایې: چی زه دبدرپه ورځ په صف کې ولاړوم ناڅاپه مې ولیدل چی زماراسته خواته دانصارودوه زلموټې ځوانان دی په دې زه پردې وویردم چی خلک به راسی مابه ددوه هلکانوپه مینځ کې ولاړ ووینی اوراګیربه می کړی ، په دې فکرکې وم چی یوهسته راته وویل اې آکا ماته ابوجهل راوښیه چی کوم یودی ماوویل اې زماوراره ابوجهل څه کوی ؟ هغه ځوان هلک راته وویل ماداالله ﷻ سره وعده کړی ده چی که ابوجهل ووینم نوهغه به هرومرووژنم یابه زه وژل کیږم ځکه زه خبرسوی یم چی ابوجهل رسول الله ﷺ ته بدرد اوښکنځل کوی قسم په هغه پاک ذات چی دهغه په لاس کې زماساه ده که هغه وینم نوزماسیوری به دهغه له سیوری نه جلاکیږی ترڅو چی په موږکې یوه ته مرګ نه وی راغلی دهغه داخبری چی می واوریدلی په زړه کې می داارزوتیره سوه چی کاشکی زه ددې هلکانوپرځای ده دووخلکوپه مینځ کی وای ماهغه هلک ته ابوجهل په اشاره وښودی دده په لیدوسره سمدستی دباز په څیر پرابوجهل باندی ورغوڅه سو اودهغه کارېې پوره کړ اوهغه خبیث یې خپل ځای ته ورسوی (بخاری شریف کتاب الجهاد باب من لم یخمس الاسلاب وبخاری شریف دویم جلد باب غزوه بدر)

همدادوه هلکان دعفراء ؓ زامن معاذ اومعوذ ؓ دی (۱)

عبدالله بن عباس اوعبدالله بن ابی بکر بن حزم ؓ دمعاذ بن عمروبن الجموح ؓ څخه روایت کوی چی زه دابوجهل په طلب کې وم کله چی وخت راته په لاس راغلی نودومره په زورمی دتوری ګذارپروکړچی دابوجهل پښه غوڅه سوه

دابوجهل زوی عکرمه (دئ وروسته دمکی په فتح کې په اسلام مشرف سو) دپلارپه ساتنه کې دمعاذ ؓ پراوږه باندی په دومره زوردتوری واروکړچی دمعاذ ؓ لاس غوڅ سو ، مګرمعاذ ؓ ترماښام پوری په همدې حالت کې جنګیدی کله چی دلاس له ځړیدوپه تکلیف سو نوپرلاس باندی یې پښه کیښوده اوپه زوره یې کش کی اولیرې یې وغورزوی

معاذ ؓ دعثمان غنی ؓ دخلافت تروخت پوری ژوندی وومګر معوذبن عفراء ؓ دابوجهل تروژل کیدو وروسته وجنګیدی ترڅوچی شهیدسو (اناالله وانااليه راجعون)

---

(۱) دصحیح بخاری له روایت چی دبدرپه بیان کې راغلی دی دامعلومیږی چی معاذ ؓ اومعوذ ؓ دابوجهل قاتلان دی مګر دکتاب الجهادله روایت معلومیږی چی معاذبن عفراء ؓ اومعاذبن العمربن الجموح ؓ دابوجهل قاتلان دی حافظ عسقلانی وایې چی دعفراء ؓ دزامنوسره معاذبن عمروبن الجموح ؓ هم دابوجهل په وژلوکې شریک وو بلکې معاذبن عمروبن الجموح ؓ په وژلوکې ډیره برخه اخیستی وه ځکه رسول الله ﷺ دابوجهل سَلَب دجنګ سامان معاذبن عمروبن الجموح ؓ ته ورکړ (کذافی فتح الباری جلد ۷ /ص /۲۳۰ وفتح الباری جلد ۶ من لم یخمس الاسلاب اوزرقانی جلد۱ /ص /۴۲۸)

سیف لودین کتابتون

له بری وروسته دابوجهل دمړی لټون

ابو جهل که څه هم ښه ژوبل سوی وو مگر دژوندآخرنی ساه تراوسه لاپکښې پاته وه ، انس ﷜ وايې چې رسول الله ﷺ دبدر په ورځ وفرمايل چې څوک شته چې دابوجهل خبرراوړي عبدالله بن مسعود ﷜ ولاړی په مړيوکې وگرزيدی ښه يې وکتل اوابوجهل يې پيدا کی خوپه هغه کې لاتراوسه پوری ساه چليږی اوژوندی دی (دادبخاری روايت دی دابن اسحاق اوحاکم په روايت کې راغلی دی چې ابن مسعود ﷜ دابوجهل پرځټ باندی پښه کيښوده اودايې ورته وويل (اخزاک ياعدوالله) الله ﷻ دې ذليل اورسواء که اې دالله ﷻ دښمنه او وروسته يې دهغه سرغوڅ کړ اودرسول الله ﷺ مخ ته کيښودی اودايې وويل(هذارأس (ا)عدوالله ابی جهل) داد خدای دد ښمن ابوجهل سردی

رسول الله ﷺ وفرمايل : (الله الَّذِی لَآاِلٰهَ اِلَّاهو) قسم په هغه الله چې له هغه پرته بل الله ﷻ نسته دادابوجهل سردی

ماپه ځواب کې ورته وويل :نعم والله الذی لااله غيره) هوقسم په هغه الله ﷻ چې له هغه پرته بل هيڅ معبودنسته دادابوجهل سردی

رسول الله ﷺ دالله ﷻ شکراداکی اودرې ځله يې په ژبه مبارکه داکلمات وويل :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی اَعَزَّ الاِسلام واهله (۱)) ثناء اوصفت هغه الله ﷻ لره دی چې اسلام اومسلمانان يې عزت مندوگرزول . په يوشميرروایاتوکې راغلی دی چې رسول الله ﷺ دشکرسجده هم اداکه (عمدة القاری باب قتل ابی جهل)

اودابن ماجه په روايت کې راغلی دی چې رسول الله ﷺ ددې نعمت په بدل کې دوه رکعته لمونځ وکی (رواه ابن ماجه عن عبدالله بن ابی اوفی ﷜ (۲)

په يوروايت کې عبدالله بن مسعود ﷜ وايې زه دابوجهل پرسينه باندی ودريدم ابوجهل سترگی خلاصی کړی اووې ويل اې شپونکيه ته نن څومره لوړځای ته ختلی يې ؟

ماورته وويل :

(الحمدلله الذی مکننی من ذلک) صفت دی هغه پاک ذات لره چې هغه ماته داتوان راکړرا .

بيا ابوجهل وويل چې بری اوغلبه دچاپه برخه سوه ؟

ماورته وويل د الله ﷻ او دهغه درسول ﷺ

بيا ابوجهل وويل ستاڅه نيت دی ؟

---

(۱)وعن عبدالله بن ابی اوفی ﷜ لماقتل ابوجهل حمل رأسه الی رسول الله ﷺ (رواه ابن ماجه بسند جيد ، زرقانی جلد ۲ /ص /۱۳) .

(۲) فتح الباری جلد ۷ /ص / ۲۳۳)

(۳) البدايه والنهايه جلد ۳ /ص / ۲۸۹)

سیف لودین کتابتون

ماورته وویل ستا د سرپریکولو او غوڅولو نیت می دی
ابوجهل وویل چی ښه دا زما توره ده په دې زما سر پریکړه دا ډیره تیره ده تاڅرهدف ته رسوی او دا یوه غوښتنه لرم چی زما سر له اوږو سره ښه لوړ پریکه ددې دپاره چی دخلکو په نظر کې هیبت ناک او ویرونکی ښکاره سی او محمد ﷺ ته زما دا پیغام ورسوه چی زما په زړه کې ترپخوانی ورځ ستا سره بغض او دښمنی ډیره زیاته ده ابن مسعود رضی الله عنه وایې چی تردې خبروروسته ما دده سرغوڅ کړ او درسول الله ﷺ مخ ته می راوړی ماورته وویل یارسول الله ﷺ دا دالله عزوجل ددښمن ابوجهل سردی او دهغه پیغام می ورسوی نبی کریم ﷺ الله اکبر ووایو اووې فرمایل: چی دا زما امت فرعون وو او زما دامت د فرعون شر او فتنه دموسی علیه السلام دفرعون ترشر او فتنی ډیره زیاته او لویه وه ځکه دموسی علیه السلام فرعون دمرګ په وخت کې دایمان کلمه لوستی وه مګر ددې امت فرعون دمرګ په وخت کې هم دکفر او لویې کلمات وویل دابوجهل توره یې ابن مسعود رضی الله عنه ته ورکه (کذافی شرح السیر الکبیر للامام السرخسی جلد ٢، صفحه ٧)
یعنی لکه څنګه چی په فضائلو او کمالاتو کې نبی کریم ﷺ ترټولو انبیاء علیهم السلام غوره او افضل دی دغه رنګه دهغه دامت فرعون هم دټولو امتوترفرعونیانو په کفر او بدبختی کې ډیر سخت وو ځکه دمرګ په وخت کې هم دهغه سترګی خلاصی نه سوی او دمرګ په بیهوښیو کې هم هغه دکفر او تکبر له نیلی نه سوراکښته بلکې پرکفر او تکبریې نور زیادت وکی (اعاذنا الله تعالی من ذلک)
باریکي: له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چی په کومه شپه رسول الله ﷺ دپیریانانو خواته تلی نو داسی یې وفرمایل: لیقم معی من لم یکن فی قلبه مثال ذرة من کبر فقام ابن مسعود فحمله رسول الله ﷺ مع نفسه (بنایه شرح الهدایه للحافظ العینی جلد١، صفحه ٢٨٢)
له ماسره دې هغه څوک ولاړسی چی دهغه په زړه کې یوه زره تکبر او لویې نه وی درسول الله ﷺ ددې خبری په اوریدو سره ابن مسعود رضی الله عنه ولاړسو او رسول الله ﷺ له ځان سره ملګری کړ
داعجیبه نه ده چی دابوجهل دوژلو نیک بختی دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه په برخه سوی وی ځکه عبدالله رضی الله عنه دالله تعالی خاص بنده وو دده په زړه کې یوه زره تکبر او غرورنه وو (١) او ابوجهل بیا دغرور او تکبر یو لوی غر وو او له سره ترپښو پوری تکبر وو دهغه خبیث په زړه کې دیوی زری په اندازه عاجزی او خاکساری نوم او نښان نه وو.
په دې وجه د ابوجهل وژل کیدل الله جل جلاله دداسی مبارک او نیک بخت سړی په لاس وکړ چی

(١) کیدای سی په همدې وجه دصحابه رضی الله عنهم په وخت کې چی به عبدالله پرته له څه قید او شرط یادسو نو عبدالله بن مسعود رضی الله عنه به ځنی اخیستل کیدی ځکه په هغه کې دعبدیت او بندګۍ خاصی نښې وی، والله سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتم)
هغه دالله عزوجل داسی خاص بنده وو چی دهغه په زړه کې یوه ذره غوندی تکبر او لویې نه وه

سیف لودین کتابتون

والله سبحانه وتعالیٰ اعلم وعلمه اتم اواحکم رضی الله تعالیٰ عن ابن مسعود وارضاه وجزاه عن الاسلام مایحبه ویرضاه آمین)

ف: دابوجهل اصل لقب ابوالحکم (۱) وو رسول الله ﷺ دابوجهل په نامه ونوموی (فتح الباری باب ذکر النبی ﷺ من یقتل ببدر) یعنی دمطلق جهل پلار اوپالونکی وو ترڅو چې هغه ژوندی وو دهغه څخه هر قسم ناپوهی ته پرمخ بیوله.

عکاشه (۲) بن محصن ؓ وجنګیدی ترڅو چې توره یې ماته سوه رسول الله ﷺ یولرګی ورکی چې هغه دعکاشه ؓ په لاس کې ترنیزه هم تیره سو په هغه یې جنګ کوی تردی چې الله ﷻ فتح اوبری مسلمانانوته ورکړ دهغې نیزی نوم عون وو په هره غزاکی به ورسره وه (۳)

عبیدة بن سعید بن العاص دبدرپه ورځ په اوسپینه کې داسی پټ ووچی له سترګو څخه پرته یې هیڅ شئ هم نه ښکاریدی زبیر ؓ دهغه په سترګه کې نیزه ووهله چې هغه پوری خواته ووتله اوهغه سمدستی مړسو زبیر ؓ فرمایې: چې ماپرسر پښه ورکیښوده اوپه ډیرزورمې نیزه راکش که نوبیا راووتله مګر دهغې څنګونه کاږه سوی وو.

رسول الله ﷺ دیادګار په ډول هغه نیزه دزبیر ؓ څخه وغوښتله دهغه تروفات کیدو وروسته له ابوبکرصدیق ؓ سره وه بیاله عمرفاروق ؓ سره اوبیادعثمان ؓ اوبیادعلی ؓ اوبیادعبدالله بن زبیر ؓ سره وه دبدرپه جنګ کې زبیر ؓ ژوبل سو یوزخم یې په اوږه باندی دمره ژور وو چې د زبیر ؓ زوی عروة ؓ به په کوچنیوالی کې په هغه ټپ کې ګوتی ننه ویستلی اوبازی به یې په کولی یوځل عبدالملک بن مروان عروة بن زبیر ؓ ته وویل ته دزبیر ؓ توره پیژنی عروه وویل هو عبدالملک وویل څنګه عروه وویل په هغه کې دبدرپه ورځ کوږوالی راغلی وو عبدالملک وویل ربښتیاوایې اودتائید دپاره یې دامصری وویله (بهن فلول من قراع الکتائب) په هغه توره کې کوږوالی شته دلویو لویو لښکرو په وهلوسره (صحیح بخاری)

---

(۱) په ابوجهل کلمه کې ابولفظ مضاف الیه اوجهل مضاف الیه اونکره دی داسی نکره چې تعین پکی نسته ځکه ددې تشریح په جهل مطلق سره وکړل سوه

(۲) یوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل چې زمادامت اویازره کسان به جنت ته پرته له حساب اوکتاب داخلیږی ددوئ مخونه به دڅورلسم دسپوږمۍ په څیرروښانه وی عکاشه ؓ چې واوریدل ولاړسواوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ ته له الله ﷻ څخه دادعاوغواړه چې الله ﷻ ماهم له هغوخلکو څخه وګرزوی نبی کریم ﷺ وفرمایل ته له هغو څخه یې، ددې خبری په اوریدوسره په انصاروﷺ کې یوبل سړی هم ولاړسواوهغه هم همداغوښتنه وکړه، نبی کریم ﷺ وفرمایل عکاشه ؓ ترتامخکې سو (بخاری شریف) مقصودنفی نه وه چې ته له هغه اویازره څخه نه یې بلکې دغوښتنولړی یې ختمول فافهم واستقم، دابوبکرصدیق ؓ دخلافت په وخت کې چې کله طلیحه بن خویلداسدی دنبوت دعوی وکړه ابوبکرصدیق ؓ خالدبن ولیدددې فتنی دختمولو لپاره ولیږی په هغه فوځ کې عکاشه ؓ هم ګډون درلودی دطلیحه په لاس شهیدسو طبقات ابن سعد جلد ۳ /ص /۶۲ بدرین مهاجرین)

(۳) البدایه والنهایه جلد ۳ /ص /۹)

دبدر بندیان

سیف لودین کتابتون

دالله ﷻ په فضل اوکرم سره جګړه دمسلمانانو په بریالیتوب پای ته ورسیده اویا ۷۰ تنه مشرکین ووژل سو (۱) اویا ۷۰ تنه بندیان سو دوژل سویو په اړه رسول الله ﷺ امر وکی چی دبدرو کوهی ته یې وغورځوی له امیّه بن خلف څخه چی کله مسلمانانو زغره کښله هغه دومره پړسیدلی وو چی دهغه بدن ټوټه ټوټه سو په دې وجه په هغه ځای کې ښخ سو (۲) کله چی دعتبه بن ربیعه بدن په کوهې وغورځول سو نو رسول الله ﷺ دعتبه زوی ابوحذیفه ؓ ولیدی چی دهغه پرمخ باندی دغم اوخفګان نښې ښکاره سوی ، رسول الله ﷺ وفرمایل اې ابوحذیفه ؓ آیا دپلار په دې حالت سره په زړه کې څه خیال درتیرسوی دی ؟ ابوحذیفه ؓ وویل : اې دالله ﷻ رسول ﷺ قسم په الله ﷻ که بل هیڅ فکر رالویدلی وی یواځی دومره خبره ده چی زما پلار ډیری ښې رایه څښتن ،مهربان ،صبرناک اودکمال څښتن وو له دې کبله ما امید درلودی چی دده داهوښیارتیا اوښه خویونه به دده لارښوونه داسلام ولوری وکوی مګراوس می پرکفرباندی مړولیدی نوځکه خفه سوم ، رسول الله ﷺ دابوحذیفه ؓ لپاره دخیر دعاوکړه .

په بدرکې دوژل سویو مشرکینو مړی دبدر وکوهی ته وغورځول سو (۳)

انس بن مالک ؓ دابوطلحه ؓ څخه روایت کوی چی دبدرپه ورځ رسول الله ﷺ دقریشو دڅلیرویشت مشرانو په اړه حکم وکی چی دوئ ودې مردار اوخراب کوهی (۴) ته وغورزوی داڅلیرویشت مشران ودې کوهی ته وغورزیدل اوپاته وژل سوی کسان و بل ځای ته وغورزول سو .

درسول الله ﷺ داعادت شریف وو چی کله به هغه پریو قوم باندی بریالی سو اوفتح به یې وموندله نودرې شپې به هلته پاته کیدی ددې عادت شریف برابر چی کله دریمه ورځ سوه

---

(۱) داویاکسانوروایت په صحیح بخاری کې له براء بن عازب ؓ څخه اوپه صحیح مسلم کې له ابن عباس ؓ څخه سوی دی اودغه صحیح دی ځکه پردې باندی دسیرت دټولوعلماء اتفاق دی چی کله داحدپه غزاکې اویا ۷۰ مسلمانان شهیدان سونو په دغه وخت کې الله ﷻ داآیت نازل کړ (ولمااصابتکم مصیبة قداصبتم مثلیها) فتح الباری جلد ۷ /ص / ۲۳۸ باب فضل من شهدبدرا)

(۲) زرقانی جلد ۱ /ص / ۴۳۲)

(۳) په بدرکې وژل سوی مشرکین خواویا ۷۰ کسان وومګر په دغه کوهی کې یواځی څلیرویشت مشران وغورزول سو نورمړی په بل ځای کې وغورزول سو (فتح الباری جلد ۷ /ص / ۲۳۴ باب قتل ابی جهل)

(۴) ایمان طهارت اوکفرنجاست دی الله ﷻ فرمایي (انماالمشرکون نجس) دمشرکینو دبدنولپاره داسی مردارکوهی مناسب وو دکفرجنابت دایمان په غسل پاکیدای سی کفرپه عالم غیب کې حدث اکبردی اوایمان طهارت کبری دی ایمان په منزله دغسل دی اودکفرټولی شعبی یعنی ګناهونه اونافرمانۍ په منزله دحدث اصغردی اودایمان ټولی شعبی یعنی طاعات په منزله دطهارت صغری یعنی داودا سه په منزله دی ، فافهم پوره بحث به ان شاء الله العزیزپه حجة الوداع کې راسی

رسول کریم ﷺ په سپرلۍ باندی دځین اینبودلو حکم وکړ دحکم برابربه هغه تلی اوصحابه کرام ؓ به ترده وروسته روانیدو دصحابه ؓ وواخیال وو چی کیدای سی دکوم

سیف لودین کتابتون

ضرورت له امله دلته پاته سوی وی رسول الله ﷺ روان سو او کوهی ته راغلی او دکوهی پرغاړه ودریدی او مشرکین یې نامه په نامه یادکړل اودا آواز یې ورته وکی ، یاشیبه ، یاامیه ، یاابا جهل وړپسی یې نورنو مونه واخیستل او داسی یې وفرمایل : چی تاسو ته دابنه معلومه سوه چی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ سرغړونه موکړی وه رښتیا هم دکوم شئ چی له موږ سره زموږ رب وعده کړی وه هغه وعده رښتیا سوه آیا تاسو هم دخپل رب وعده و موندله ، (دادبخاری روایت دی)

دابن اسحاق په روایت کې نورزیادت هم سوی دی هغه دادی : اې دکوهی خلکو تاسو دخپل نبی ﷺ په حق کې ډیره بده قبیله واست ، ځکه تاسوزه دروغجن وګنلم او خلکو زما تصدیق وکی ، او تاسوزه له وطن وشړلم ، او خلکو ماته ځای راکی ، او تاسوله ماسره جنګ وکی ، خو خلکو زما مرسته وکړه ، زه آمین وم خو تاسو په خائن راته وویل ، زه رښتینی وم خو تاسو دروغجن راته وویل ، الله ﷻ دې تاسو ته بده بدله درکړی ، دبخاری او مسلم په روایت کې راغلی دی چی عمرفاروق ﷺ وویل اې دالله ﷻ رسول ﷺ آیا ته دې بیروحه بدنو ته خبری کوی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : قسم په هغه پاک ذات چی دهغه په لاس کې زما ساه ده ، زما خبری تاسو دترهغوئ ښې نه اوری مګر هغوئ ځواب نه سی راکولای (١)

حسان بن ثابت ﷺ په یوه اوږده قصیده کې فرمایې :

يناديهم رسول الله لما .... قذفنا هم كباكب في القلب

کله چی موږ دوئ مړی په کوهی وغورزول نو رسول الله ﷺ دوئ ته آواز وکی :

الم تجدوا كلامی كان حقاً .... وامر الله يأخذ بالقلوب

آیا تاسو زما خبره حق ونه موندله او الله ﷻ خو دزړو مالک دی

فمانطقوا ولو نطقوا لقالوا .... صدقت وكنت ذارأی مصیب

دوئ خبری نه سوی کولای او که چیری دوئ خبری کولای سوای نو دابه یې ویلی وو چی ته رښتینی یې او ستا رایه حق او صحیح ده

ف : له دې احادیثو څخه معلومیږی چی مړی هم اوری دجمهور صحابه ﷺ او تابعین هم همدارایه ده ام المؤمنین عائشه صدیق ﷺ دمړیوله اوریدلو څخه نه دی منکره دتفصیل دپاره دحدیثو کتابونه او مدارج النبوة وګوری .

(١) زرقانی جلد ١ /ص/ ٤٣٣، البدایه والنهایه جلد ٣ /ص/ ٣٩٢)

دبری دزیری لپاره مدینې منوری ته دقاصدلیږل

سیف لودین کتابتون

تردې وروسته رسول الله ﷺ دبری دزیری دپاره مدینی منوری ته دوه قاصدان ولیږل دمدینی منوری ولوړی خواته يې عبدالله بن رواحه ﷺ اوکښته خوا ته يې زيد بن حارثه ﷺ ولیږی اسامه بن زید ﷺ فرمايي : چی دازیری په هغه وخت کې زموږ غوږوته ورسيدی کله چی موږ د رسول الله ﷺ پرلوراودعثمان غنی ﷺ پربی بی مبارکه رقيه ﷺ باندی خاوری اړولی ددې دناروغي په وجه عثمان غنی ﷺ دنبی کریم ﷺ په امرپه مدینه کې پاته سوی وو له دې کبله عثمان ﷺ په بدرکې شريک نه سو مگر داپاته کیدل د رسول الله ﷺ په امرسره وو په دې وجه عثمان ﷺ حکماً په بدرکې وشمیرل سو اسامه ﷺ وايې ماخلک ولیدل چی دزيدبن حارثه ﷺ پرشاوخوا راگرزیدلی دی اوزید ﷺ په مصلی کې ولاړدی اوداوايې چی عتبه بن ربیعه ووژل سو اوشیبه بن ربیعه اوابوجهل بن هشام اوزمعة بن الاسود اوابوالبختری بن هشام اواُمیه بن خلف اونبیه بن حجاج اومنبه بن حجاج ووژل سو ماوویل اې پلاره آیاداخبری رښتیادی زید ﷺ وویل قسم په الله ﷻ دا بیخی زما د ستر گو لیدلی حال دی .

دزيدبن حارثه ﷺ اوعبدالله بن رواحه ﷺ ترلیږلو وروسته رسول الله ﷺ روان سو اودبدر دبندیانو قافله ورسره وه دغنیمت مال يې عبدالله بن کعب انصاری ﷺ ته وسپاری ،

کله چی روحاء نومی ځای ته ورسیدل رسول الله ﷺ ته څه مسلمانان په مخ ورغلو هغوئ رسول الله ﷺ ته اودهغه صحابه ﷺ ته ددې بری مبارکی وویله دمبارکي په اوریدوسره سلمة بن سلامة ﷺ وویل تاسودڅه شئ مبارکی راکوی قسم په الله ﷻ له ترکهانانوسره مومقابله وه په رسیوتړل سوی وو اوداوښانوغوندی موحلال کړه ، یعنی موږخو ډیرغټ کار نه دی کړی چی تاسومبارکی راکوی ، رسول الله ﷺ ددې خبری په اوریدوسره مسکی سو اوداسی يې وفرمایل داخودمکی سرداران اومشران اوشریفان خلک وو .

دغنیمت دمال ویشل

له فتح وروسته رسول الله ﷺ په بدرکې درې ورځي پاته سو تردرې ورځوپاته کیدو وروسته مدینی منوری ته ستون سو اودغنیمت مال يې عبدالله بن کعب ﷺ ته وسپاری اوصفراء ته چی ورسیدل نودغنیمت مال يې وویشی دغنیمت دمال دویشلووخت لانه وورارسیدلی چی په صحابه کرام ﷺ کې دغنیمت دمال دویشلوپه اړه مختلفی رایه راولاړی سوی ځوانانوویل چی دغنیمت مال زموږحق دی ځکه موږ کافران ووژل اوسپین ږیرو وویل چی موږهم تردې نیرغ لاندی وو که څه هم په جنگ کې زموږبرخه لږوه مگر کوم بری چی راغلی هغه زموږپه مرسته ووکه خدانخواسته تاسوماته خوړلی وای نوموږته به موپناه راوړه اوبله ډله هغه چی درسول الله ﷺ ساتنه يې کوله وویل ددې حقدار موږیو

ددې خبروپه اړه داآیت نازل سو : يَسْئَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ(۱) آیت سورة الانفال

سیف لودین کتابتون

دوئ له تاڅخه دغنیمت په اړه پوښتنه کوی ورته ووایه چی دغنیمت مال دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ دی . یعنی دغنیمت دمال مالک الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ دالله ﷻ نائب دی څنګه چی دهغه خوښه وی هغه رنګه دی وویشی ،

صفراء ته چی ورسیدل نبی کریم ﷺ دغنیمت ټول مال پرمسلمانانو وویشی .(۱) اوله حاضروصحابه ﷺ پرته اته کسان نورهم په دې کې شریک کړو داهغه کسان وو چی درسو ل الله ﷺ په حکم سره یااجازه سره بدرته نه وو راغلی . (۱) عثما ن بن عفان ﷺ درسول الله ﷺ په امر دبی بی رقیه ﷺ دناجوړی په وجه سره پاته سوی وو (۲) طلحه بن عبیدالله ﷺ (۳) سعیدبن زید ﷺ دوئ دواړه یې له مدینی منوری څخه دابوسفیان دقافلی دخبردپاره لیږلی وو (۴) ابولبابه ﷺ د رسول الله ﷺ خلیفه ووپه مدینه کې ځکه پاته سوی وو (۵) عاصم بن عدی ﷺ رسول الله ﷺ په عالیه کې پری ایښي وو (۶) حارثه بن حاطب ﷺ نوموړی یې دیو کار دپاره عمروبن عوف ته بیرته لیږلی وو (۷) حارث بن الصمة ﷺ (۸) خوات بن جبیر ﷺ دوئ که څه هم په بدرکې نه وو مګر رسول الله ﷺ دوئ ته دبدرپه غنیمت کې برخه ورکړه اوپه بدریینو کې یې شامل کړل والله اعلم (۲)

ف :دغنیمت په اړه چی کوم آیت نازل سو یعنی : يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ دامجمل دی او دپنځمی برخی آیت شریف چی وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ (٤١ آیت سورة الانفال) دامفصل دی په دې آیت شریف کې د غنیمت دمال دویش کیفیت اوطریقه بیان سوی ده ابوعبید وایې چی دبدرله غنیمتو څخه پنځمه برخه نه دی ایستل سوی مګر امام بخاری اوامام ابن جریر اونور بیا وایې چی دبدرله غنیمتو څخه پنځمه برخه ایستل سوی ده لکه چی په صحیحنو کې له علی ﷺ څخه دهغه دوواوښوپه اړه چی ددوئ دواړو بوک حمزه ﷺ پریکړی وو دانقل سوی دی چی په هغو کې یوه هغه اوښه وه چی دبدرله پنځمی برخی څخه ورته رسیدلی وه ، حافظ ابن کثیر وایې :چی داخبره صحیح اوراجح ده (۳)

کله چی دوئ صفراء ته ورسیدل رسول الله ﷺ له بندیانو څخه یې دنضربن حارث دوژلو حکم وکی او کله چی له صفراء تیرسو عرق الظبیه ځای ته ورسیدل نودعقبة بن ابی معیط دوژلو حکم یې وکړ اوپه همدغه ځای کې دهغه سرغوڅ سو (۴)

---

(۱) تفسیر قرطبی جلد ۷ /ص /۳۶۷، البدایه والنهایة جلد ۳ /ص /۳۰۱)
(۲) ابن الاثیر جلد ۲ /ص /۵۱)
(۳) البدایه والنهایة جلد ۳ /ص /۳۰۱_۳۰۲)
(۴) زرقانی جلد ۱ /ص /۴۴۹)

سیف لودین کتابتون

علی ﷛ د نضربن حارث سرغوڅ کړاو عاصم بن ثابت ﷛ د عقبه بن ابی معیط سر پرې کړې او نور بندیان یې له ځان سره مدینې منورې ته روان کړل .

ف : نضر او عقبه دواړه د رسو ل الله ﷺ له سختو دښمنانو څخه وو دوئ ډیر پوچ خولې اوبدژبې وو په خبرو او عمل دواړو سره به یې رسول الله ﷺ ته بد رد ښکنځل او سپکې سپورې ویلې ټوکې او مسخرې به یې پرکولې په لاس اوژبه په هررنګه ضرر رسولو کې یې هیڅ صرفه نه کوله ځکه دوئ له ټولو بندیانو څخه بیل سو او وژل سو ،

یوه ورځ رسول الله ﷺ په حرم کې د الله ﷻ په دربار کې سرپه سجده پروت وو عقبه بن ابی معیط د رسول الله ﷺ پر شا یا ملا مبارکه باندې داوښ لرې واچوې او دهغه مبارک ﷺ غاړه یې خفه کړه ،، په دلائل ابی نعیم کې په صحیح سند سره له ابن عباس ﷛ روایت سوی دی چې یوه ورځ عقبه دنبی کریم ﷺ په مخ مبارک باندې لاړې توف کلې وې (۱) لنډه داچې دپاک ذات او دپاکو صفاتو پرڅښتن علیه الف الف صلوات والف الف تحیات ، پسې یې ټوقې او مسخرې کول دعقبه خبیث غذا او خوراک وو ، د الله ﷻ دنبی ﷺ مقابله او له هغه مبارک سره جنګ کول که څه هم لوی جرم او ښکاره دښمني دی مګر د الله ﷻ د نبی ﷺ په شان کې بی ادبی اوناوړه خبرې بدرد او ښکنځل او په هغه پورې ټوقې او مسخرې کول تر جنګ او جګړو ډیر سخت او لوی جرم دی ځکه د نبوت د منصب سپکاوی دی ان شاء الله العزیز په دې مسئله به تفصیلي خبرې په خپل ځای کې کوو علماء دی ددې مسئلې دتحقیق لپاره دشیخ الاسلام حافظ ابن تیمیه قدس الله سره کتاب الصارم المسلول (۲) علی شاتم الرسول وګوري چې هغه پردې موضوع باندې ډیر جامع کتاب دی ، لنډه داچې نبي کریم ﷺ ځای پرځای باندې دمه کوله او د بندیانو قافله ورسره وه ترڅو چې مدینې ته ورسیدل .

دبدر بندیان په مسلمانانو وویشل سو او له هغوئ سره دښه چلند او نیکۍ حکم وسو

فاتح فوځ چې کله مدینې منورې ته ورسیدل نبی کریم ﷺ بندیان په صحابه ﷛ وویشل او داسې یې وفرمایل :(استوصوا بالاساری خیراً) له بندیانو سره نیکي او ښه چلند کوئ (رواه الطبرانی فی الکبیر وقال الحافظ الهیثمی اسناده حسن)

صحابه کرام ﷛ له بندیانو سره دومره ښه سلوک کوئ چې مخکې به یې بندیانو ته خوراک ورکوئ او وروسته به یې په خپله خوړې او که به څه شئ پاته نه سو نو په خپله به یې په خورما ګذاره کوله ، دمصعب بن عمیر ﷛ سکه ورور ابو العزیز بن عمیر هم په بندیانو کې وو هغه وایې چې زه دیو انصاری ﷛ په کور کې وم دوئ به سهار او ماښام لرډوډۍ پخوله هغه به یې ما ته راکوله او په خپله به یې خورما وې خوړې زه به شرمیدم او ډیر ټینګار به مې ورته کوئ چې دغه ډوډۍ تاسو وخورئ مګر هغوئ داخبره نه منله او دا به یې ویل چې رسول الله ﷺ مورته له بندیانو سره دښه چلند حکم کړی دی

(قال الهیثمی رواه الطبران فی الصغیر والکبیر واسناده حسن (مجمع الزوائد جلد ۶، ص ۸۶)

ـــ(۱) الخصائص الکبری جلد ۱ /ص /۴۰۷) ـــ (۲) داکتاب په دائرة المعارف حیدرآباد کې چاپ سوی دکتاب ټولې پاڼې ۶۰۰ دي)

سیف لودین کتابتون

دبدر دبندیانو په هکله مشوره

مدینې منورې ته له رسیدو څوورځې وروسته رسول الله ﷺ صحابه ؓ دبدر دبندیانو په اړه له صحابه کرام ؓ سره مشوره وکړه چې څه باید وکوو ؟

له انس بن مالک ؓ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ دبدردبندیانو په اړه له صحابه ؓ څخه مشوره وغوښته چې ستاسو څنګه خوښه ده اونبی کریم ﷺ په خپله داسې وفرمایل :

إِنَّ اللهَ أَمْكَنَكُمْ منهم : رښتیاهم الله ﷻ تاسو ته پردوئ باندې واک درکړی دی .

عمرفاروق ؓ وویل چې یارسول الله ﷺ ښه به داوي چې دټولوسرونه غوڅ سي مګر رسول الله ﷺ رحمت للعالمین دارایه تسویب نه که اوبیایې وفرمایل :

يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللهَ قَدْ أَمْكَنَكُمْ (١) اې خلکو رښتیاهم الله تعالی تاسو ته پردوئ باندې واک درکړی دی اودوئ پرون ستاسی وروڼه وو ، ابوبکرصدیق ؓ وویل اې دالله ﷻ رسول ﷺ زمارایه داده چې له دې خلکوفدیه واخیستله سي اوپریښودل سي (مسنداحمد) وقال الهیثمی رواه احمد عن شیخه علی بن عاصم بن صهیب وهو کثیرالخطاء لایرجع اذاقیل له الصواب وبقیته رجال احمد رجال الصحیح (٢)

په صحیح مسلم کې له ابن عباس ؓ څخه روایت دی چې عمرفاروق ؓ غوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ هرسړی دی خپل خپلوان ووژني ، علي ؓ ته حکم وکړه چې دخپل ورور عقیل سرپریکړي اوماته اجازه وکه چې زه دخپل فلاني خپل سرغوڅ کړم ځکه دوئ دکفرمشران اوسرداران دي (٣)

ابوبکرصدیق ؓ وویل یارسول الله ﷺ دوئ ستاقومیان دي زمارایه خوداده چې له دوئ فدیه واخله اوآزادیې که کیدای سي چې الله تعالی دوئ ته داسلام لارښوونه وکوي

---

(١) رسول الله ﷺ لومړئ ځل داسې وفرمایل (ان الله امکنکم) وعفواومهربانی ته اشاره وه مګر عمرفاروق ؓ چې کله دوژلومشوره وکړه نورسول الله ﷺ دویم ځل پرعفواومهربانی ډیرټینګاروکړ اوتلقین یې ورکړچې عفوترواک لرلو وروسته خاص بیاخپلووروڼوته له لوړواوښواخلاقوڅخه دی دیاکلمه په عربی کې دلیرې اوریدونکي لپاره کارول کیږي یعنی اې هغه خلکوچې ترعفومخکې تللی یاست تاسوته په کاردی چې عفواومهربانی ته نږدې راسی په یاالله کې دیاکلمه داستعمال هم همدامعنی دی چې اې الله ﷻ موږګنهګاران دخپلې بدکارۍ په وجه ستاله رحمت وړاندې تللی یوموږتررحمت مخکې تللی خلک خپل رحمت ته نږدې کړه الله ﷻ خوانسانانوته دغاړې ترښارګوهم ډیرنږدې دی مګرسره له دې نږدیکت دالله ﷻ دپاره دیاحرف نداستعمالیږي هغه په دې مناسبت لکه موږچې بیان درته وکړفافهم)

(٢) مجمع الزوائد جلد ٦ /ص /٨٧)

(٣) دعبدالله ابن مسعود ؓ په روایت کې راغلی دی چې عبدالله بن رواحه ؓ په اورکې دسوځولومشوره ورکړه اوعمرفاروق ؓ داسې وویل یارسول الله ﷺ (کذبوک واخرجوک وقاتلوک فاضرب اعناقهم) یارسول الله ﷺ دوئ تاته په دروغجن ویلي دی اوته یې له مکې راایستلی یې اوستاسره یې جګړه وکړه نوددوئ دسرغوڅولوحکم وکوه (ترمذی جلد ٢ /ص /٢١٠ /داروایت په مسنداحمداوجامع ترمذی اومستدرک اونوروکې راغلی دی امام ترمذی دې روایت ته حسن اوحاکم صحیح ورته ویلی دی درمنثورجلد ٣ /ص /٣٠١)

سیف لودین کتابتون

اوهمدغه خلک دکافرانو په مقابله کې زموږ مرسته کونکی سی ؟ رسو ل الله ﷺ هم همدغه رایه تصویب او خوښه که (صحیح مسلم باب الامداد بالملائکة فی غزوة بدر واباحة الغنائم)

تنبیه: علی ﷛ وکرم الله وجهه هم په مشوره کې برخه درلوده لکه چې دصحیح مسلم په روایت کې راغلی دی مګر په هیڅ روایت کې دعلی ﷛ ځواب نه دی نقل سوی (زرقانی ج۱ /ص ۴۴۱/)

عبدالله ابن مسعود ﷛ فرمايي: چې رسول الله ﷺ دابوبکرصدیق ﷛ اوعمرفاروق ﷛ رایه واوریده اوداسی یې وفرمایل: چې اې عمر ﷛ ستاشان دنوح ﷵ اوموسی ﷵ په شان دی ځکه هغوئ هریوه دخپل قوم په حق کې دادعاکړی وه :: نوح ﷵ داسی دعاوکړه:

رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا (٢٦) إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا (٢٧) آیت سورة النوح

اې رب ﷻ ته پرمخ دځمکی باندی له کافرانو څخه څوک اوسیدونکی مه پرېږدی که ته هغوئ پرېږدی نودوئ به ستابندګان بیلاری کی اودوئ نه زیږوی مګر بدکاران اوکافران

اوموسی ﷵ داسی دعاکړی وه :

رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّى يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ (٨٨) آیت سورة الیونس)

اې زموږ پالونکي ته ددوئ مالونه خراب کی اوددوئ په زړوباندی مهرولګوی چی ایمان رانه وړی تردی پوری چی دردناک عذاب ووینی .

او اې ابوبکر ﷛ ستاشان بیا دابراهیم ﷵ اوعیسی ﷵ په شان دی هغوئ دادعاغوښتی وه ، ابراهیم ﷵ داسی دعاوغوښتله:

فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (٣٦) آیت سورة ابراهیم)

هر څوک چی زماخبره منی نوهغه له ماسره دی اوڅوک چی زماخبره نه منی نواې الله ﷻ ته ښبونکی اومهربان ذات یې اوهغه ته دایمان توفیق ورکولای سی .

اوعیسی ﷵ به دقیامت په ورځ داسی وایې :

إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (١١٨) آیت المائده سورة)

اې الله ﷻ که ته دوئ ته عذاب ورکوی نودوئ ستابندګان دی ته ددوئ مالک یې اوکه دوئ ته ښښنه کوی نو ته لوی اوغالب اوحاکم ذات یې .

کوم ګنهګارچی غواړی وبښی اوستابښنه له حکمت نه سی خالی کیدای درسول الله ﷺ درحمة للعالمین شان دابوبکرصدیق ﷛ رایه خوښه کړه اودفدیه ورکولوپه بدل کې دبندیانودخوسی کولوحکم وکړ (حاکم فرمايي داحدیث صحیح الاسناد دی ، حافظ ذهبی هم په تلخیص کې دې حدیث ته صحیح ویلی دی مستدرک جلد۳، صفحه ۲۱)حافظ ابن کثیرفرمايي : چی داحدیث دعبدالله بن عمراوابوهریره اوابوایوب انصاری ﷛ څخه هم روایت سوی دی (البدایه والنهایه جلد۳، صفحه ۲۹۸)

سیف لودین کتابتون

رسول الله ﷺ له صحابه کرام ﷺ سره مشوره کوله په همدې وخت کې وحی نازله سوه چې ته صحابه ﷺ ووته دقتل او فدیه اختیارورکړه لکه چې دعلی کرم الله وجهه څخه روایت دی وایي جبرئیل ﷺ دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ دبدر دبندیانو په هکله خپلو ملګروته اختیارورکړه که غواړي ودی وژني اوکه غواړي فدیه دی واخلي آزاددی کړي مګر شرط دادی چې په راتلونکی کال کې به له تاسو دومره وژل کیږي صحابه ﷺ له دوئ څخه دفدیه اخیستلو اوپه راتلونکی کال کې خپل وژل کیدل غوره کړه (رواه الترمذي والنسائي وابن حبان والحاکم باسناد صحیح عن علی ﷺ (۱)

په مصنف عبدالرزاق اومصنف ابن ابی شیبه کې له ابوعبیده ﷺ څخه مرسلاً روایت سوی دی جبرئیل ﷺ رسول الله ﷺ ته راغلی داسی یې وفرمایل چې ستارب تاته دبدر دبندیانو په هکله اختیارد رکړی دی ، رسول الله ﷺ له صحابه ﷺ سره مشوره وکړه صحابه ﷺ مشوره ورکړه چې یارسول الله ﷺ اوس به موږ له دوئ فدیه واخلو اوآزاد به یې کړو ددې دپاره چې موږ ته ددوئ په مقابله کې له دی څخه قوت حاصل سی اوپه راتلو نکی کال کې چې الله ﷻ چاته شهادت لیکلی وی دشهادت عزت اوکرامت به راکړي (۲) دابن سعد په روایت کې راغلی دی چې په راتلونکی کال کې دې له موږ څخه اویا ۷۰ کسان جنت ته داخل سی (۳) (طبقات ابن سعد جلد ۲، صفحه ۱۴)

په فدیه اخیستلو باندی دالله تعالی له لوری دملامتیا نازلیدل

رسول الله ﷺ خود ابوبکرصدیق ﷺ رایه خوښه که اودفدیه په بدل کې یې دبندیانو د پریښودلو حکم وکی اودنورو مشرانو صحابه ﷺ دفدیه اخیستلو رایه په دې وجه ورکړه چې کیدای سی همدا خلک وروسته مسلمانان سی اودا سلام مرسته کونکي اوساتو نکی سی اوپه فدیه سره چې اوس دستی کوم مال لاسته راسی په هغه به په جهاد کې زموږ ملا وتړل سی اوپه دینی کارو کې به ددې څخه کته واخلو اوکیدای سی چې دفدیه مشوره ورکونکو کې څه داسی خلک هم وی چې دهغوئ زیات مقصود مال اومتاع حاصلیدل وی چې دهغه منشأ ددنیا محبت دی که څه هم حلاله دنیاوی یعنی دغنیمت مال څکه پردوئ باندی دالله ﷻ له لوری ملامتیا وویل سوه اودا آیت نازل سو : :

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الْآخِرَةَ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (٦٧) لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ (٦٨) (الانفال سورة)

دیو نبی دپاره دامناسب نه دی چې له هغه سره بندیان وی ترڅو چې دوئ ووژني اوپر ځمکه ددوئ وینه وبهوی تاسو ددنیا مال اوسامان غواړی اوالله تعالی دآخرت سمون غواړی اوالله ﷻ زوروراو حاکم ذات دی که دالله ﷻ لیکل سوی تقدیر نه وای نودهغه شئ په اړه چې تاسو اخیستی دی هرومرو به تاسو ته لوی عذاب رسیدلی وو

(۱) فتح الباری ج /۷ ص /۲۴۹) ——(۲) درمنثور ج /۳ ص /۲۰۲) ——(۳) طبقات الکبری ج /۲ ص /۱۴)

سیف لودین کتابتون

ددې عتاب اصل مخاطب هغه خلک دی چې دهغوئ دنیایې ګټه وته په نظرکی وه اودفدیه مشوره یې ور کړی وه لکه چې له تریدون عرض الدنیا څخه معلومیږی اونورکسان چې خاص ددین اودآخرت دګټوپربناء یې مشوره ورکړی وه هغوئ په حقیقت کې په دې ملامتیاکې داخل نه دی اورسول الله ﷺ یوائې دصله رحمی اومهربانی په بناء باندی دفدیه رایه خوښه کړی وه اوددې دپاره چې نوروته دنیایې ګټه ورسیږی اونوروته مالی ګټه رسول سخااودافکرلرل عزت دی اوډیر دستایلوور صفت دی اودځان دپاره ددنیادګټی مراعت کول ښه نه دی په دې آیت کې ملامتیا یوائې پرهغه خلکوده چې د هغوئ ډیر نظر ومالی ګټی ته وو ، نبی کریم ﷺ اوابوبکرصدیق رضی الله عنه چې دالله ﷻ دا ملامتیاواوریدله په ژړاسو عمرفاروق رضی الله عنه راغلی اودژړاسبب یې ځنی وپوښتی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل :ابکی للذی عرض علی اصحابک من اخذهم الفداء لقدعرض علی عذابهم ادنی من هذه الشجرة صحیح مسلم جلد۲، صفحه ۹۳) ستاپرهغوملګروژاړم چې پردوئ دفدیه اخیستلوپه وجه دالله ﷻ له لوری ملامتیاوویل سوه ماته ددوئ عذاب تردې درختی هم نژدی وړاندی سو

ف : عذاب فقط ښودل سوی وو نازل سوی نه دی مقصودیوائې آګاهی اوخبرداری وو تردی وروسته رسول الله ﷺ داسی وفرمایل چې که هغه وخت عذاب راغلی وای نوپرته له عمر رضی الله عنه په بل هیڅوک نه وو پاته سوی اوپه یوروایت کې راغلی دی چې پرته له سعدبن معاذ رضی الله عنه څخه(۱) ځکه دسعدبن معاذ رضی الله عنه هم دارایه وه چې ودې وژل سی په دې وجه دعمروفاروق رضی الله عنه سره هغه هم بیل سو ، عبدالله بن رواحه رضی الله عنه که څه هم دفدیه مخالف وو مګر دهغه رایه داوه چې داټول دی په اورکې وسوځول سی خودده رایه په شریعت کې نه وه منظوره په دې وجه دعبدالله بن رواحه رضی الله عنه یادونه ونه سوه

په دې غزاکی دحق ثابتول اودباطل ختمول اودکافرانوریښې له بیخه کښل مقصودوی لکه چې الله تعالی فرمایې : وَيُرِيدُ اللَّهُ أَن يُحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكَافِرِينَ (۷) لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ (۸) آیت الانفال سورة) دالله تعالی اراده داده چې حق په خپله وعده سره ثابت کړی اودکافرانوریښې له بیخه وکاږی ددې لپاره چې دحق حق کیدل اودباطل باطل کیدل په ډاګه ښکاره سی که څه هم مجرمان یې بدګڼی)

له دې کبله په دې غزاکی دالله ﷻ له لوری په ځانګړی ډول مسلمانانوته دمشرکینو دوژلوحکم سوی وو لکه چې الله تعالی فرمایې:

فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ (۱۲) الانفال سورة)

کافران ترغاړولوړپرڅټ باندی ووهی اودوئ بندپربند سره بیل کې ،

---

(۱) زرقانی جلد۱ /ص /۴۴۲)

سیف لودین کتابتون

اوپه يوبل آيت کې الله ﷻ داسی فرمايی : فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّىٰ إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّىٰ تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا(٤) محمد سورة)

هغه وخت چی دکافرانوسره جنګ کوی نودهغوئ سرونه پرېکړی تردی پوری چی کله تاسودهغوئ وينه ښه توئ کړه نوبياهغوئ بنديان کی اودبندی کولوڅخه وروسته نوياپرهغوئ باندی احسان وکوی اوياله دوئ څخه فديه واخلی اوداحکم ترهغه وخت پوری دی چی کله جنګ خپل سامان ايږدی يعنی جنګ پای ته رسيږی ،،

له دې آيت په ډاګه ښکاره سو چی ترڅوچی دالله ﷻ ددښمنانوداسی وينه نه وی توئ سوی چی جنګ بری ته وې رسيدلی اودحق غلبه اودبدبه نه وی راغلی ترهغه وخت پوری فديه اخيستل نه دی روا اوداسلام دلويي اوهيبت اودبدبه اوعزت دراتلووروسته که فديه واخيستله سی اويادوئ آزاد کړل سی نوڅه ملامتيانسته ،،

په دې وخت کې دالله تعالی اراده داوه چی پوره وينه توی سی ددې دپاره چی دکافرانوپه زړوکې داسلام هيبت اودبدبه ولويږی اودکفر ريښي وخيژی اوپه راتلونکی کې کفر د اسلام په مقابله کې سرپورته نه کړای سی مسلمانانوخودالله ﷻ ددښمنانودپوره وينه تويولوڅخه مخکې فديه واخيسته له دې کبله دالله ﷻ له لوری ملامتيا راغله(١)

ځکه داوخت دمهربانی نه وو بلکې دشدت اوډيری سختی وو

ابوالطيب وايې : ووضع الندى فى موضع السيف بالعلى .... مُضِرٌّ كوضع السيف فى موضع الندى

مهربانی.کول دتوری په ځای کې داسی زيانمن دی لکه توره چی دمهربانی په ځای کې اېښودل زيانمن دی اوددنياهيڅ حکومت له وينی تويولوپرته نه سی ټينګيدای.

لن يسلم الشرف الرفيع من الاذى .... حتى يراق على جوانبه الدم

لوړ عزت له تاوان رسيدلوڅخه خوندی نه سی پاته کيدای ، ترڅوچی دهغه پرخواوشا باندی وينه توی نه سی ..

اسلام يواځي دګنهګارانودوژلوحکم ورکوی مګر اوس چی کوم غربی اواروپايې حکومتونه دپرمخ تګ اوتمدن دعوی کوی هغوئ دخپلی دبدبی اوعزت دساتلودپاره دګنهګار اوبی ګناه فرق نه کوی پرته له څه جلاوالی دعام وژنی حکم ورکوی چی په هغه کې بی ګناه ښځي اوکوچنيان سپين ږيری ماشومان وژل کيږی اودغه دغرب لنډغر دادپرمختګ ټيکه داران دادنږه جابران کافران امريکايان اواروپايان دادپرمختګ اوجمهوريت بچيان دې کافرانو دمسلمانانوداسی بيګناه وينی توی کې چی وچ اولامده يوځای وسوځول اوهغه بی حيا کارونه يې وکړه چی ټول انسانيت په شرميږی اوټوله نړۍ يې په خپلوسترګووينی په طيارو ، توپو ، کروزمزايلو ، راکټانو ، پاسپورس بمونو ،

(١) احکام القرآن جلد٣ /ص /٧٢)

سیف لودین کتابتون

خوشيي بمونو اوكيمياوي بمونوېې دمسلمانانوواړه اوزاړه لويان اوكوچينان وسوځول په ډيره بې رحمي اوبې دردي ټول ښار په څو دقيقوكې وسوځوی ،،
الحمدلله اسلام ددې سخت زړيتوب اوبې رحمي څخه بيخي پاک اوبيزاره دی اسلام جهادته دتللوپه وخت كې خپل منونكې دكوچنيانو ، ښځواوماشومانو ، سپين ږيرو ، راهبانو ، ددې ټولوله وژلوڅخه سخت منع كړې دی
سوال : دالله ﷻ له لوری دفديه اووژلودواړو اختيار وركړل سوی وو نوبياپه فديه اخيستلوباندی ولی ملامتيا راغله ؟
ځواب : دااختياريوائې ظاهری اوصوری ووپه حقيقي اومعنوی لحاظ اختيارنه بلكې ازموينه اوامتحان وو چې آياتاسودالله ﷻ ددښمنانووژل خوښوی اوكه ددنياسامان غوره كوی داځواب علامه طيبي طيب الله ثراه وجعل الجنة مثواه په شرح دمشكوة كې كړی دی ،، وايې لكه هغه وخت چې امهات المؤ منين رضي الله عنهن له نبي كريم ﷺ څخه د زياتي نفقې غوښتنه وكړه نودا آيت نازل سو :
يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا (٢٨) وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا (٢٩) الاحزاب سورة
اې نبي ﷺ ته خپلو ببيانوته ووايه چې كه تاسوددنياژوندا وښائست غواړی نوراسئ چې تاسوته مناسب څه دركړم اورخصت موكړم اوكه الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ اوآخرت غواړی نوالله تعالى په آخرت كې په تاسوكې دښه عمل كوونكولپاره لويه بدله تياره كړې ده .
په دې آيت كې ښكاره كه څه هم امهات المؤمنين رضي الله عنهن ته اختياروركړل سوی دی چې دوئ كه دنيااودهغې ښائست غواړی نوطلاق وركړه اوكه الله ﷻ اورسول ﷺ اوآخرت غواړی نوالله ﷻ ددوئ دپاره ښه بدله تياره كړې ده داپه اصل كې اختيارنه بلكې يوازموينه وه. لكه څنګه چې دهاروت اوماروت دجادو دښودلودپاره نازليدل خالص فتنه اوازموينبت دپاره وو دجادوزده كول اونه زده كولو اختياروركول مقصودنه وو
اولكه څنګه چې دمعراج په شپه رسول الله ﷺ ته دشرابو اوشيدو دوه لوښې راوړل سوی وو اورسول الله ﷺ شيدی غوره كړی په دې باندې جبرئيل عليه السلام وويل چې كه تاشراب غوره كړی وای نوستاامت به په ګمرهی كې لويدلی وو ..
دځبرمغز داروونی چې ابوبكرصديق رضي الله عنه اونوروصحابه كرام رضي الله عنهم چې دفديه مشوره وركړې وه هغه يوائې ددين اوآخرت دغوراوی پربنيادوه اوديوشميرخلكو دمالي ګټې په نظر كې نيولوسره دفديه مشوره وركړې وه په دې وجه داآيت دملامتيانازل سو اودا ملامتيا له لويه سرهغه خلكوته متوجه ده ځكه ددوئ ډير نظر مالي ګټې ته وو لكه چې (تريدون عرض الدنيا) څخه معلوميږی اودملامتيا هدف دادی چې تاسودالله ﷻ اورسول ﷺ له

سیف لودین کتابتون

ملګری سره سره ددنیانیستی کیدونکی مال اوپردیو سپکواسبابوته ولی ګوری اې درسول ﷺ ملګرو ستاسوپه شیر دسابقینواولویې مرتب دښبتنانولپاره هیڅکله دا مناسب نه دی چې ددنیاګټه فدیه اوغنیمت ته وګوری ، رسول الله ﷺ چې دفدیه رایه غوره کړی وه دهغه منشأ یوائې صله رحمی خپلوی رحم دلی وه معاذالله درسول الله ﷺ اوابوبکرصدیق رضی الله عنه یوه ذره هم دنیایې ګټه په نظرکې نه وه نوځکه دوئ په دې ملامتیاکې داخل نه دی درسالت په دربارکې خودتولی دنیا وجود اونشتوالی یوشان دی دفدیه وخوروپوته به هغه څنګه وګوری .

فایده : په دې آیت یوشمیرعلماء دلیل نیولی دی چې انبیاء علیهم السلام هم کله کله اجتهاد کوی اوکله په هغه اجتهادکې خطاکیږی هم مګر الله تعالی خپل نبی هیڅ کله پرخطانه پریږدی بلکې دوحی له لاری هغه تنبیه ورکوی مګر دانبیاء علیهم السلام داجتهاد اودمجتهدینوپه اجتهادکې ډیرتوپیرسته ، هغه توپیردادی چې دوحی دنازلیدوروسته دنبی په اجتهاد باندی عمل نه ساقطیږی ځکه رسول الله ﷺ چې په کوم اجتهادسره دفدیه اخیستلوحکم کړی وو هغه ددې آیت ترنازلیدووروسته هم پاته سو اوپه هغه کې هیڅ تغیراوتبدیل ونه سو اورسول الله ﷺ دوژلووخواته هیڅ رجوع ونه کړه بلکې حکم پر همدې فدیه باندی پاته سو داسی نه دی لکه دمجتهداجتهاد ځکه مجتهدته که له اجتهادوروسته داښکاره سی چی زمااجتهادله فلانی نص څخه خلاف دی نوپرهغه باندی له مخکنی اجتهادڅخه رجوع کول لازم دی .

ددې خبری یادیدل په کاردی چې نبی اورسول ﷺ که پراجتهادباندی پټه خوله پاته سی نوهغه اجتهاد دوحی خفې په درجه کې کیږی اوددې اجتهادهغه حکم دی کوم چې دښکاره وحی وی اوکه دنبی داجتهادخلاف وحی نازل سی داښکاره وحی دهغه پټې وحی یعنی اجتهادنبوی دپاره ناسخ جوړیږی لکه چې یوآیت دبل آیت دپاره اویوحدیث دبل حدیث دپاره ناسخ کیږی . دغه رنګه دالله تعالی نص اوښکاره وحی دپټې وحی یعنی اجتهادنبوی ناسخ کیږی اودنسخ حکمتونه الله ﷻ ته معلوم دی دالله ﷻ نبی چې په هغه څه کې اجتهادوکوی چې هغه نه وی روښانه سوی هغه هم دالله تعالی په غیبی اشاره سره وی لکه چې الله تعالی فرمایي :

{إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ(١٠٥) النساء سورة

رسول الله ﷺ چې کومه رایه اومشور ورکړه هغه هم دالله ﷻ په لاښوونه اواشاره سره وه اووروسته چې ددې خلاف کوم حکم نازل سو هغه هم دالله ﷻ حکم دی اویو حکم دبل حکم دپاره ناسخ دی، والله یفعل مایشاء ویحکم مایرید ، دنبی ﷺ څخه چې په اجتهادکې

سیف لودین کتابتون

کومه خطاپیښه سی نو الله تعالی دوحی له لاری وهغه ته تنبیه ورکوی معاذالله وهیڅ انسان ته دانه دی روا چی دنبی ﷺ په اجتهاد باندی ګوت نیونه اوپه تنګ نظر وګوری دالله تعالی دسکوت اوثبوت څخه وروسته دنبی ﷺ په اجتهادباندی انتقاد اوګوت نیونه داسی کفردی لکه چی پر ښکاره وحی باندی ګوت نیونه اوانتقاد کول چی کفردی دمؤمن شان باید داسی وی : زبان تازه کردن باقرار تو.......... نینگیختن علت از کار تو

دادنبوت اورسالت سترمقام دی په دې مقام کی دنفس دغوښتنوکوڅو اوکوروته هیڅ تګ نه کیږی په داسی ځای کې دهوس دبندیانو لکې وهل بشپړکم عقلی اوناپوهی ده :

نه هر جائی مرکب توان تاختن.................. که جاها سپر باید انداختن

که موتفصیل په کاروی نوعلماء دې شرح تحریرالاصول اوشرح مسلم الثبوت لبحرالعلوم ته رجوع وکوی.

دغه رنګه داهم زدکړی چی دانبیاء علیهم السلام داجتهادی خطاء معنی دانه دی چی معاذالله انبیاء علیهم السلام په غلطی سره حق پریږدی اودباطل ارتکاب کوی بلکې ددوئ دخطاء معنی دادی چی په یووخت کې په هیره سره دآولی اوافضل څخه خلاف اولی باندی عمل کوی اودعزیمت پرځای په رخصت باندی عمل کوی لکه داود علیه السلام اوسلیمان علیه السلام دهریوه اجتهاد دنفس دغوښتنی څخه پاک اوبیل وو اودهریوه اجتهادوحی خفی اوباطنی وه مګرښکاره وحی قیاس سلیمانی ترقیاس داؤدی اولی اوغوره وګرزوی ښکاره وحی چی دقیاس سلیمانی ستاینه وکړه ددې مطلب دانه دی چی داؤدی قیاس غلط ووبلکې دهغه مطلب دادی چی دالله عزوجل په نزد قیاس سلیمانی په نسبت وقیاس داؤدی ته ډیر ښائسته اونژدی وو دجګړه مارو مصلحتوته معاذالله ددې دواړو قیاسو هغه نسبت نه وو کوم چی په حق اوباطل کې دی بلکې هغه نسبت وو کوم چی په کامل اواکمل اوفاضل اوافضل اوعلی اواعلی کې دی یاعزیمت اورخصت کی توپیردی اوفقهاء حنفیه چی کوم قیاس جلی اواستحسان ویشلی دی دهغه یومأخذ دغه قیاس سلیمانی اوقیاس داؤدی دی دې ناکاره بنده چی دانبیاء علیهم السلام داجتهادی خطاء کومه معنی بیان کړی ده دایې دخیالی کتاب له حاشیه څخه فهم کړی ده مدرسین حضرات دی اصل وګوری زه غریب خویوائې یوترجمان یم.

دفدیه اندازه

دفدیه اندازه دخلکو دشتمنی په لحاظ سره وه له زرو دینارو څخه بیاترڅلورو زرودینارو پوری وه اوکوم خلک چی به غریبان وو اوفدیه یې نه سوه اداکولای هغه پرته له فدیه ازاد سو .اودکوموبندیانوچی لیک لوست زده وو پرهغوئ داشرط کیښودل سو چی لس ١٠ لس ١٠ کوچنیانو ته به لیک لوست زده کوی بیابه آزادیږی دادهغوئ فدیه وه زیدبن ثابت رضی الله عنه له دې لاری لیکل زده کړل ، (طبقات ابن سعد جلد ٢، صفحه ١٤ قسم اول سیرة ابن هشام جلد ٣ /ص/ ٣١، زرقانی جلد١، صفحه ٤٤٢)

سیف لودین کتابتون

دبدرپه بندیانو کې ابوعُزّه عمرو بن عبدالله بن عثمان هم دفدیه ورکولو توان نه وو له دې کبله درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ ته په دې خبرېږې چې زه غریب اوعیال داره یم ته پرما احسان وکوه رسول الله ﷺ احسان پروکې اوپرته له فدیه یې آزادکړ مګر داشرط یې باندی کیښودی چې زموږ په مقابله کې به دهیچا مرسته نه کوی ، ابوعزه داشرط ومنی اودرسول الله ﷺ په شان کې یې څه مدحیه اشعارهم وویل مګر اسلام یې نه راوړی داحدپه ورځ دکفرپه حالت کې ووژل سو اودغه رنګه مطلب بن حنطب اوصیفی بن ابی رعاعة پرته له فدیه ورکولو آزاد سو (١)

ومکی ته دبدر دجنګ حال رسیدل

کله چې ومکی ته دقریشو دتباهی اوهلاکت خبر ورسیدی نو ټوله مکه توره تیاره اوغم خپور سو ترټولو مخکې مکی ته حَیْسَمَان خزاعی ورسیدی خلکو ورته وویل وایه حیسمان څه خبردی راوړی دی ؟

حیسمان وویل موږ ټول ووژل سو عتبه بن ربیعه ، اوشیبه بن ربیعه ، اوابوالحکم بن هشام (یعنی ابوجهل) اوامیه بن خلف ، اوزمعة بن الاسود ، اونبیه بن حجاج ، اومنبه بن حجاج ، اوفلان اوفلان دټولو قریشو دمشرانو نوم لړ یې ورته لیکه کی ،

صفوان بن امیه په همدې وخت کې په حطیم کې ناست وو کله چې ده دحیسمان خبره واوریدله وې ویل زماخوداخبره زړه ته نه لویږی کیدای سی داسړی لیونی سوی وی تاسو دامتحان په ډول زما پوښتنه ځنی وکوی چې صفوان بن امیه څنګه سو ؟

حیسمان وویل هغه خودغه دی په حطیم کې ناست دی ماپه خپلو سترګو ولیدل چې دهغه پلار او ورور ووژل سو (٢)

ابن عباس ﷺ وایې چې ماته ابورافع بیان کړی دی چې دعباس ﷺ په کورنۍ کې اسلام داخل سوی وو مګر موږ له خلکو پټ ساتی کله چې قریش دبدر جنګ ته روان سو نو موږ دخبر په انتظار وو حیسمان خزاعی راغلی اودقریشو دماتی خبرې راوړی موږ درسول الله ﷺ دبری په اورید وسره په خپل زړه کې بی کچې خوشاله سو زه په دغه وخت کې دزمزم دڅاه دبرنډی لاندی ناست وم اوزما ښځه ام فضل هم هلته وه په دې وخت کې ابولهب هم راغلی اوابوسفیان بن حارث (٣) هم دخلکو په مخکې راروان دی خلکو ابولهب ته وویل

---

(١) سیرة ابن هشام جلد ٣ /ص /٣١)

(٢) سیرة ابن هشام جلد ٢ /ص / ٢٧)

(٣) ابوسفیان بن حارث بن عبدالمطلب بن هشام الهاشمی نوموړی درسول الله ﷺ دآکازوی اورضاعی وروردی رسول الله ﷺ اودته حلیمه سعدیه شیدی ورکړی دی دمکی په فتح کې په اسلام مشرف سو دده په اړه رسول الله ﷺ داسی وفرمایل (ابوسفیان سید فتیان اهل الجنة) یعنې ابوسفیان بن حارث ﷺ دجنت دځوانانو سردار دی تفصیلی پیښه به ان شاء الله دمکی دفتح په بیان کې راسی (اصابه جلد ۴ /ص /١٠ /ترجمه ابوسفیان بن الحارث ﷺ باب الکنی)

سیف لودین کتابتون

دادی ابوسفیان له بدر څخه راغلی دی،
ابولهب ابوسفیان راوغوښتی او له ځان سره یې کښینوی او د بدر د حال پوښتنه یې ځنی وکړه ؟ ابوسفیان وویل :والله ماهو الا ان لقینا القوم فمنحاهم اکتافنا یضعون السلاح منا حیث شاؤ و او یاسرو ننا کیف شاؤ وایم الله مع ذالک مالمت الناس لقینا رجالا بیضا بیض علی خیل بلق بین السماء والارض ماتبقی شیئاً ولایقوم لهاشئ)
قسم په الله ﷻ نه وو مګر داسی ووچی له یو داسی قوم سره مونږ مخامخ سو مونږ خپلی اوږی دوئ ته وسپارلی څنګه چی دوئ غوښتل پر مونږ یې وسله وچلوله او څنګه چی یې غوښتل مونږ یې بندیانولو او په همدې وجه زه خلک نه ملامتوم قسم په الله ﷻ پرتک سپین آسانو باندی سپاره خلک د ځمکی او اسمان په مینځ کې خلکو زمونږ مقابله کوله قسم په الله ﷻ هغوئ هیڅ شئ هم نه پریښودی او هیڅ شئ هم د هغوئ مخ ته نه سو ټینګید لای (قال ابورافع قلت والله تلک الملائکة) ابورافع وایې ما وویل قسم په الله ﷻ دا فرشتی دی د دې خبری په اوریدو سره ابولهب دومره غصه سو چی زه یې په زوره یوسوک ووهلم او را پورته یې کم په ځمکه یې راواچولم او دوهلو د پاره زما پر سینه باندی کښیناستی او زه ډیر کمزوری بدن والا وم ام فضل ولاړه سوه اویوه ستنه یې راپورته کړه ابولهب یې په داسی زور ووهی چی سر یې مات سو او دایې ورته وویل چی د ده بادار (عباس) نسته نو ځکه تا دئ کمزوری وګڼی.
په ابولهب خبیث یوه هفته لانه وه تیره سوی چی په یو طاعونی دانه مبتلا سو او مړ سو بدن یې دومره بدبویه سو چی څوک نژدی وهغه خواته نه سو تیریدلای کله چی مړ سو درې ورځی وروسته یې زامنو یوائی د شرم له وجی یوه کنده ورته وکینده له او په لرګویې د هغه مړی وروا چوی (۱) (وقال الهیثمی رواه الطبرانی والبزار وفی اسناده حسین بن عبیدالله وثقه ابوحاتم وغیره وضعفه جماعة وبقیة رجاله ثقات (۲)
ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها چی به کله پر هغه ځای تیریدله و کوم ځای ته چی ابولهب ورغورزیدلی وو نو په ټوکر کړه به یې مخ پټوی (۳)
لکه نبی کریم ﷺ چی به کله د ثمود پر دریاب تیریدی نو مخ مبارک به یې په ټوکر پټوی او سورلی به یې تیزه کړه ودې ته اشاره وه چی د عذاب له ځایو چی کله تیریږی نو داسی عمل کول په کار دی ام المؤمنین رضی الله عنها په دې سنت باندی عمل وکړ (۴)

---

(۱) قال العلامة السیوطی رحمه الله اخرجه ابن اسحق وابن سعد وابن جریر والحاکم والبیهقی خصائص کبری جلد ۱ ص/ ۲۰۷)
(۲) مجمع الزوائد جلد ۶ ص/ ۸۹)
(۳) البدایه والنهایة جلد ۳ ص/ ۳۰۹)
(۴) زرقانی جلد ۱ ص/ ۲۵۳)

سیف لودین کتابتون

قریشوته چې کله دخپلو خپلوانو اودوستانو دوژل کیدوخبرورسیدی نودژړااوفریادو واویلا شروع سوه پوره یوه میاشت یې مکه پرسر اخیستی وه دغه شان ژړا اوفریادیې کوی له یوی میاشتی وروسته داحکم وسو چې هیڅ یوسړی دی ژړا او فریادنه کوی ځکه که محمد ﷺ اودهغه ملګری خبرسی نوډیربه خوشحاله سی اونه به څوک خپلو بندیانو ته فدیه ورکوی هسی نه چې محمد ﷺ دفدیه اندازه زیاته کی (۱)

مګر له دې اعلان سره سره بیاهم مطلب بن ابی وداعه څلورزره درهم له ځان سره واخیستل اودشپی په پټه مدینی منوری ته روان سو کله چې مدینی ته ورسیدی نودخپل پلار ابووداعه فدیه یې اداکړه اوپلاریې خلاص کړ مکی ته یې راوستی تردې وروسته دفدیه ورکولولړۍ پیل سوه اوخلکو خپل خپلوانو ته فدیه لیږلی او هغه یې راخلاصول(۲)

په دې بندیانوکې سهیل بن عمرو هم وو دئ ډیر زیرک اوخوږژبی شاعروو په مجلسوکې به یې درسول الله ﷺ بدی بیانولی عمرفاروق ؓ غوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ اجازه راکه چې دسهل دواړه لاندی غاښونه وباسم ددې دپاره چې بیاستادبدی ویلو قابل نه وی اوستاپه خلاف ژبه ونه ښوروی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل : چې دئ پریږدی کیدای سی چې الله تعالی تاسوته په هغه سره کومه خوشالی درکړی (رواه البیهقی فی الدلائل) اصابه ترجمه سهیل بن عمرو لکه څنګه دحدیبی سوله دهغه په کوښښ سره وسوه چې هغه سولی ته الله تعالی فتح مبین وویل اوپه فتح دمکی کې په اسلام مشرف سو ،،دابن هشام په روایت کې راغلی دی چې رسول الله ﷺ دعمرفاروق ؓ په ځواب کې داسی وفرمایل :(لاأمثِلُ به فیمَثِلُ الله بی وان کنت نبیاً)زه دهیچادبدن غړی نه پریکوم هسی نه چې الله عزوجل زمامثله وکوی که څه هم زه نبی یم .. په دې بندیانوکې دابوسفیان بن حرب زوی عمرو هم شامل وو کله چې ابوسفیان بن حرب ته وویل سو چې دخپل زوی عمروفدیه ورکړه چې راخلاص سی نوابوسفیان په ځواب کې داسی وویل چې دا کیدای سی چې زمودسړی دی هم وژل سوی وی اوفدیه به هم ورکوو زمایوزوی حنظله ووژل سو اودبل زوی فدیه ورکړم ترڅوچې غواړی بندی دی کی په دې وخت کې سعدبن نعمان انصاری ؓ له مدینی منوری څخه مکی ته دعمری دپاره راغلی ابوسفیان هغه دخپل زوی په بدل کې ونیوی دانصارو ؓ په غوښتنه رسول الله ﷺ عمرو بن ابی سفیان ورسره تبادله کړ اوسعدیې راخلاص کړ په دې بندیانوکې درسول الله ﷺ زوم ابوالعاص بن ربیع هم شامل وو درسول الله ﷺ لور زینب ؓ چې دخدیجة الکبری ؓ له خیټی څخه وه دابوالعاص په نکاح کې وه خدیجة ؓ دابوالعاص خاله وه ..

(۱) زرقانی جلد۱ /ص /۴۵۳) ــــــ (ابن هشام جلد۲، صفحه ۲۷)

سیف لودین کتابتون

هغې داسې نازوی لکه زوی په خپله خدیجه رضی الله عنها رسو ل الله ﷺ ته تربعثت مخکې وویل چې دزینب واده له ابوالعاص سره وکړه ابوالعاص ښه مالدار اوامین اوغټ تجار وو تربعثت وروسته خدیجه رضی الله عنها اودرسو ل الله ﷺ ټولولوڼوایمان راوړی مگر ابوالعاص پر شرک پاته سو . قریشوپه ابوالعاص باندی ډیر زور راوستی چې دابولهب دزامنوپه څیر ته هم دمحمد ﷺ ولورته طلاق ورکړه چې ستاخوښه وی هلته به موږتاته واده وکوو مگرابوالعاص ونه منله اوویل یې چې دزینب رضی الله عنها په څیر شریفی ښځی په بدل کې ددنیاټولی ښځی هم نه خوښوم ،

کله چې قریش دبدردجنگ لپاره روان سو نوابوالعاص هم له دوئ سره ملگری وو لنډه داچې هغه هم له نوروخلکوسره بندی سو دمکی خلکوچې کله دخپلوبندیانوفدیه لیږلی نوزینب رضی الله عنها دخپل میړه ابوالعاص په فدیه کې خپل دغاړی امیل ولیږی داهغه امیل وو چې خدیجة الکبری رضی الله عنها دواده په وخت کې وزینب رضی الله عنها ته ورکړی وو ..

رسول الله ﷺ چې کله هغه امیل ولیدی نوډیر خفه سو اوصحابه کرام رضی الله عنهم ته یې وویل که ستاسوخوښه وی نوداامیل بیرته وروليږی اوبندی پریږدی دوئ هم په سرسترگومنله بندی هم ازادسو اوامیل هم بیرته وزینب رضی الله عنها ته ولیږل سو ..

مگر رسول الله ﷺ دابوالعاص څخه داژمنه واخیسته چې کله چې مکی ته ورسیږی نوزینب رضی الله عنها به مدینی ته رااستوی ابوالعاص چې کله مکی ته ورسیدی نوزینب رضی الله عنها ته یې دمدینی دتللواجازه ورکړه اوخپل ورو کنانه بن ربیع سره ملگری کړه کنانه په ټکنده غرمه کې په اوښ سپره کړه اوپه لاس کې دغشوگوډانه اولینده راواخیستل اودمدینی په لوری روان سو درسول الله ﷺ لورپه ښکاره له مکی څخه روانه سوه داخبره پرقریشو ډیره گرانه تمام سوه .

سمدستی ابوسفیان اوڅه نورقریش دطوی کندی ته راغلو اواوښ یې راوگرزوی اوکنانه ته یې وویل چې موږ ته دمحمد ﷺ دلور دگرزولواړتیا نسته مگر په داسی ښکاره تگ سره دې زموږسپکاوی وکړ ښه به داوی چې اوس بیرته مکی ته ستون سی اودشپې په وخت کې ولاړسی کنانه هم ورسره ومنله ترابوسفیان مخکې هبّار بن اسود راغلی اواوښ یې راوگرزوی اوزینب رضی الله عنها یې وویروله چې په دې سره دهغې حمل ساقط سو په دغه وخت کې کنانه غونډۍ ته پورته سو اوغشي په لیندۍ کې کیښودی اوداسی یې وویل چې که هرڅوک اوښ ته رانژدی سی نوپه غشی به یې سوری سوری کړم لنډه داچې کنانه مکی ته بیرته وگرزیدی اودوې یادرې ورځې وروسته دشپې روان سو ،،

سیف لودین کتابتون

له بلې خوا رسول الله ﷺ زيدبن حارثه رضی الله عنه او يوانصاري رضی الله عنه ته حکم وکې چې تاسو ولاړ سی بطن ياجج ته هلته کښينئ کله چې زينب رضی الله عنها راورسيږي نو هغه له ځان سره راولی دوئ دواړه بطن ياجج ته ورسيدل او دمکې له خوا کنانه بن ربيع راغلی کنانه له هغه ځايه بيرته مکې ته راستون سو او زيدبن حارثه رضی الله عنه سره دخپل ملګري او زينب رضی الله عنها مدينې ته روان سو دبدر ترجنګ يوه مياشت وروسته زينب رضی الله عنها مدينې منورې ته ورسيدله.

زينب رضی الله عنها له رسول الله ﷺ سره اوسيدله ابو العاص په مکه کې وو دمکې له فتح مخکې ابو العاص دتجارت په نيت شام ته ولاړ ځکه چې دمکې دخلکو دابو العاص پر امانت باندې باور وو ځکه نو دنورو خلکو شتمنی او سرمايه هم په قافله کې وا چول سوه دشام څخه دراستنيدو په وخت کې يوه ډله مسلمانانو دابو العاص پر قافله باندې بريد وکړ دوئ ټول سامان ځنې ونيوی خو ابو العاص په پټه مدينې ته دزينب رضی الله عنها څنګ ته راغلی رسول الله ﷺ چې کله دسهار دلمانځه دپاره مسجدنبوي ته راغلی نو زينب رضی الله عنها دښځو دلمانځه له ځايه ږغ وکې چې اې خلکو ابو العاص بن ربيع ته ما پناه ورکړې ده؟

رسول الله ﷺ چې دلمانځه خلاص سو صحابه کرام رضی الله عنهم ته يې مخ واړوی او داسې يې وفرمايل

ايها الناس هل سمعتم ماسمعت قالوا نعم قال اما والذي نفسي بيده ماعلمت بشئ من ذلک حتی سمعت ماسمعتم انه يجير علی المسلمين ادناهم)

اې زما خوږو ملګرو تاسو هغه خبره واوريدله کومه چې ما واوريدله دوئ ورته وويل هو يا رسول الله ﷺ رسول الله ﷺ وفرمايل قسم په هغه پاک ذات چې دمحمد ﷺ روح دهغه په لاس کې دی زه په دې هيڅ خبر نه يم کوم چې تاسو واوريدل ما هم واوريدل ربښتيا هم پوه سی ښه پوه سی چې په مسلمانانو کې هغه ادنی او ترکمزوری کمزوری مسلمان هم پناه ورکولی سی .. داخبره يې وکړه او دخپلې مبارکې لور خوا ته ورغلی او دايې ورته وفرمايل چې اې لورې دده ښه درناوی وکوه مګر خلوت مه کوه ځکه ته دهغه دپاره حلاله نه يې يعنې ته مسلمانه يې او دئ مشرک دی او رسول الله ﷺ دسريه مجاهدينو ته وفرمايل چې تاسو ته ددې سړي يعنې ابو العاص اړيکې له موږ سره معلوميدې که ستاسو خوښه وي نو دهغه مال بيرته ورکې او که يې نه ورکوی ستاسو خپل مال دی دالله عزوجل له لورې درکړل سوی دی او تاسو دخپل مال واک لرې.

ددې خبرې په اوريدو سره مجاهدينو ټول مال بيرته راوړی چا به ډول راوړی او چا به رسۍ چا به لوټه راوړه او چا د څرمنې ټوټه لنډه دا چې ټول مال يې له ذره ذره ويشلو سره بيرته راوړی ، او ابو العاص ته يې وسپاری ابو العاص مال واخيستی او مکې ته روان سو او دهر چا برخه چې په دې مال کې وه هغه يې ورکه او دټولو شريکانو دشراکت حساب يې ختم کی کله چې دشريکانو حساب کتاب ختم سو نو قريش ته يې داسې وويل :

سیف لودین کتابتون

يامعشر قريش هل بقى لاحد منكم عندى مال يأخذه قالوا لا فجزاك الله خيرا فقد وجدناك وفيا كريما قال فانا اشهدان لااله الاالله وان محمدا عبده ورسوله والله مامنعنى من الاسلام عنده الاتخوف ان اكل اموالكم فلمااداهاالله اليكم وفرغت عنها اسلمت)

اې قريشو آيا د چا څه مال زما پر ذمه پاته سوى دى چې هغه ورو سپارم ؟ قريشو وويل نه تا ته دى الله تعالى ښه بدله در کړي ربښتيا هم ته ډير وفادار او شريف سړى يې ده وويل نو زه اوس شاهدى ورکوم چې له الله ﷻ پرته هيڅوک دعبادت اوبندګى لائق نسته اوبيشکه محمد ﷺ دالله ﷻ بنده اودهغه رسول ﷺ دى زه تراوسه يوائې په دې وجه مسلمان نه سوم چې تاسو دا ګمان ونه کوى چې دمال خوړلو په نيت يې داسى وکول کله چې الله تعالى ستاسو مال تاسو ته ورسوى او زما غاړه يې خلاصه کړه نو زه مسلمان سوم وروسته ابوالعاص له مکى څخه مدينى ته راغلى رسول الله ﷺ بيرته زينب رضي الله عنها ده ته په نکاح کړه (١)

له يو شمير رواياتو څخه معلوميږي چې پخوانۍ نکاح کافي وبلل سوه نوى نکاح نه دى سوى مګر په نورو رواياتو کې ددې تصريح سوه ده چې نوى نکاح وسوه او دفقهاء په نزد هم همدا روايت صحيح دى ځکه که پخوانۍ نکاح کافي وګڼل سى نو رسول الله ﷺ به خپلى لورمبارکى ته نه فرمايل چې ته دده لپاره حلاله نه يې .

دبدر په بنديانو کې عباس درسول الله ﷺ آکا هم وو په جګړه کې کعب بن عمرو ابو اليسر رضي الله عنه عباس تکيه کړى وو عباس ډير قوى غټ سرلرونکى سړى وو ابو اليسر بيا نرى کمزورى اولنډ قدلرونکي سړى وو رسول الله ﷺ وفرمايل اې ابو اليسر رضي الله عنه تا عباس څنګه بندى کړ ؟ ابو اليسر رضي الله عنه وويل يارسول الله ﷺ يو سړى زما مرسته وکړه او هغه ما بيخي تردې مخکې ليدلى هم نه وو او نه مې وروسته وليدى او دهغه هيبت داسى او داسى وو رسول الله ﷺ وفرمايل(لقداعانک عليه ملک کريم) ربښتيا هم يوه ډير محترم ملکى ستا مرسته کړى ده دا روايت په مسند احمد او طبقات ابن سعد او نورو کې له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت سوى دى او په دلائل بيهقى او دلائل ابى نعيم کې له على رضي الله عنه څخه روايت سوى دى له دې پرته په نورو بيلا بيلو طريقو سره هم دا روايت نقل سوى دى (٢) او په معجم طبرانى کې په خپله له ابو اليسر رضي الله عنه څخه روايت سوى او په مسند احمد کې له براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت سوى دى فتح البارى باب شهود الملائکة بدراً څخه يو باب وروسته حافظ هيثمى فرمايي رواه احمد والبزار ورجاله الصحيح غير حارثة بن مضرب وهو ثقه مجمع الزوائد باب غزوة بدر

(١) سيرة ابن هشام جلد ٢ /ص /٢٨)
(٢) خصائص کبرى جلد ١ /ص /٢٠٢)

سیف لودین کتابتون

دعباس بندیتوب پر رسول الله ﷺ باندی لږ گران تمام سو کله چی نبی کریم ﷺ دعباس اسویلی واوریدی نوخوب یې ولاړی انصار رضی الله عنهم چی په دې پوه سو عباس یې له بنده خلاص کی اوداغوښتنه یې وکړه چی که رسول الله ﷺ اجازه وکوی نومونږ دخپل خوریې (۱)فدیه بخښو رسول الله ﷺ ځواب ورکی (والله لاتذرن منه درهما) قسم په الله ﷻ ده ته به یو درهم هم نه ورپرېږدی له عباس چی کله دفدیه غوښتنه وسوه نوده دخپلی مفلسی عذر وړاندی کی رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ستاهغه مال چیری دی چی تاا وستاښځی ام فضل ښخ کړ؟ عباس ددې خبری په اوریدوسره حیران پاته سو اووې ویل بیشکه زه شاهدی ورکوم چی ته رښتینی رسول یې زمااودام فضل څخه پرته هیڅوک هم په هغه مال نه دی خبر، حاکم فرمایې چی داحدیث په شرط دمسلم باندی صحیح دی مستدرک ترجمه العباس رضی الله عنه په دلائل ابی نعیم کې په حسن سندسره له ابن عباس رضی الله عنه روایت کړی چی رسول الله ﷺ په عباس باندی سل اوقیه (۲) اوپرعقیل بن ابی طالب باندی اتیا اوقیه فدیه کیښوده دبدرپه ټولوبندیانو کې ترټولوډیره فدیه دعباس بن عبدالمطلب وه عباس ووېل چی آیاتا دخپلوۍ په وجه زمافدیه دومره زیاته کیښوده یعنی دخپلوۍ غوښتنه خوداده چی ته زمافدیه کمه کې مگر دلږوالی پرځای تازمافدیه ډیره وټاکله ..په دې اړه داآیت نازل سو : یَا أَیُّهَا النَّبِیُّ قُلْ لِمَنْ فِي أَیْدِیکُمْ مِنَ الْأَسْرَىٰ إِنْ یَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِکُمْ خَیْرًا یُؤْتِکُمْ خَیْرًا مِمَّا أُخِذَ مِنْکُمْ وَیَغْفِرْ لَکُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِیمٌ (۷۰) سورة الانفال)

اې نبی ﷺ ته خپلوبندیانوتهووایه کوم چی ستاپه لاس کی دی چی تاسوپه دې فدیه باندی هیڅ خوامه بدوی که الله تعالی ستاسوپه زړوکې څه نیکی ووینی یعنی په صداقت اسلام ومنی نوله تاسوچی څه فدیه اخیستل سوی ده ترهغه به غوره تاسوته درکړی اوتاسوته به بخښنه وکوی اوالله تعالی ډیر ښونکی اومهربان ذات دی

عباس رضی الله عنه به وروسته ویل کاشکې چی له ماڅخه په هغه وخت کې دوچنده فدیه اخیستل سوی وای (۳) له ماچی څومره فدیه واخیستل سوه الله تعالی ترهغه غوره اوښه بدله راکړه دسل اوقیه زروپه بدله کې یې سل مریان راکړه او دوئ ټول تجاران دی داڅمنه خو په دیناکې پوره سوه دویمه وعده چی دبښنی ده دهغې امیدلرم (۴) زه وایم (غفرالله له) ان شاء الله تعالی دادویمه وعده به هم خامخاپوره کیږی ځکه ان الله لایخلف المیعاد اوداکلمه دان شاء الله تبرکاً وایم نه تعلیقاً .

(۱) انصارو رضی الله عنهم عباس رضی الله عنه ته په خوریې وویل ځکه دعباس رضی الله عنه انایعنی دعبدالمطلب مور دانصارو رضی الله عنهم له کورنۍ څخه وه اودخوریې په ویلوکې ودې ته اشاره وه چی مونږباید دده فدیه معاف کړودانیکې مونږ په خپله دخوریتوب په وجه ورسره کوونه داچی په رسول الله ﷺ باندی ددې نیکۍ احسان واچوو درسول الله ﷺ داکاوالی په وجه یې نه ورسره کوو دادانصارو رضی الله عنهم خوی اوښه ادب وو له رسول الله ﷺ سره رضی الله عنهم ورضواعنه)

(۲) یوه اوقیه څلویښت درهم کیږی)

(۳)فتح الباری جلد ۷ /ص / ۲۴۸)

(۴) درمنثور جلد ۳ /ص / ۲۰۴)

سیف لودین کتابتون

دبدر په بندیانو کې نوفل بن حارث هم وو کله چې رسول الله ﷺ له هغه څخه فدیه وغوښته نوده په ځواب کې ورته وویل چې زما سره خوهیڅ هم نسته چې په فدیه کې درکړم، رسول الله ﷺ ورته وویل چې تاهغه نیزې څه کړې کومې چې تاپه جده کې پرې ایښې وې نوفل وویل قسم په الله ﷻ له الله ﷻ پرته بل هیڅوک هم په دې نیزونه دی خبرو زه شاهدي ورکوم چې بیشکه ته دالله ﷻ رښتینی رسول ﷺ یې، نوفل هغه نیزې په فدیه کې ورکړې چې دهغو شمیر زرته رسیدی رسول الله ﷺ عباس ؓ اونوفل ؓ دورور ګلوی په مزی سره وتړل دجاهلیت په وخت کې هم دوئ دواړه سره دوستان وواودتجارت شریکان هم وو (مستدرک ترجمه نوفل بن حارث)

عمیربن وهب جمحی داسلام له سختو دښمنانو څخه وو په مکه مکرکه کې به یې رسول الله ﷺ اودهغه ملګروته تکلیفونه رسول په بندیانوکې دده زوی وهب بن عمیرهم وو یوه ورځ عمیر بن وهب اوصفوان بن امیه په حطیم کې ناست وو صفوان دبدر دوژل سویو مشرانویادونه وکړه وې ویل چې نور نودژوندمزه نه دی پاته سوی ،عمیروویل هوقسم په الله ﷻ دقریشود مشرانوله وژل کیدو وروسته رښتیاهم دژوندخوند تللی دی که زما پر ذمه قرض اودلوښوسرپرستی نه وای نواوس تلم اومحمد ﷺ می قتل کوی اوراتلم اوزمادتګ بهانه هم جوړه ده ځکه زمازوی په مدینه کې بندی دی ،صفوان ډیر خوشحاله سو وخت یې غنیمت وګڼی سمدستی یې وویل چې ستاقرض او دلوښوساتنه زه پرخپله ذمه اخلم خوته داکاروکوه صفوان سمدستی توره تیره کړه اوپه زهرویې ککړه کړه اوعمیرته یې ورکړه عمیرهم سمدستی مدینی ته وران سوکله چې عمیرمدینی ته ورسیدی نودمسجدنبوئ له باندی دروازی سره یې اوښه ودروی ، عمرفاروق ؓ چې کله عمیرولیدی پوه سو چې دئ خوپه بدنیت راغلی دی سمدستی راغلی اودعمیر توره یې ونیوه مخ ته یې ودریدی ، رسول الله ﷺ وفرمایل راپریږدی رسول الله ﷺ له دعمیر څخه پوښتنه وکوله چې څنګه راغلی یې ؟ عمیروویل دخپل زوی دخلاصون لپاره راغلی یم .رسول الله ﷺ ورته وفرمایل نوبیاداتوره څه کوی ؟ عمیرورته وایې داتوری دې خدای نیستی کړی دوئ زموږژوندتباه اوبربادکړی اوموږیې ود ې حالت ته راوستو .رسول الله ﷺ ورته وایې عمیررښتیاراته ووایه کله چې ته اوصفوان په حطیم کې سره ناست ولاست څه مشوره مووکړه ؟ عمیرپه ویره وویل ماله هغه سره هیڅ مشوره هم نه دی کړی ،رسو ل الله ﷺ وفرمایل :تازمادوژلوذمه واخیسته اوصفوان بیاستادلوښوسا تنه اوستادپورو ذمه پرځان کړه چې ستاقرضونه به آداکوی همداسی نه دی اې عمیر ؟

عمیروویل : اشهدانک رسول الله ﷺ ان هذا الحدیث کان بینی وبین صفوان فی الحطیم لم یطلع علیه احد غیری وغیره فاخبرک به فآمنت بالله ورسوله)

سیف لودین کتابتون

زه شاهدي ورکوم چې بیشکه ته دالله رسول ﷺ یې داخبره زما او صفوان ترمینځ وه بل هیڅوک په دې نه وو خبر نو الله تعالی تاته ددې خبر درکړی دی نو ځکه ما ایمان راوړی په الله ﷻ او دهغه په رسول ﷺ باندې. داروایت په معجم طبرانی کې له انس بن مالک رضی الله عنه په صحیح سند سره روایت سوی دی او په دلائل بیهقی او دلائل ابی نعیم کې مرسلاً ذکر سوی دی (۱)

دابن اسحاق په روایت کې داسې راغلی دی (والله انی لاعلم ماآتاک به الاالله فالحمدلله الذی هدانی للاسلام وساقنی هذاالمساق ثم تشهد) قسم په الله ﷻ زه پردې یقین لرم چې له الله ﷻ پرته هیچا تاته ددې پیښې خبر نه دی درکړی نو حمد دی وی هغه الله عزوجل لره چې ماته یې داسلام لارښوونه وکړه او زه یې دلته راوستم او تردې وروسته یې کلمه شهادت ولوسته. رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم ته وویل خپل ورور عمیر رضی الله عنه ته دین وښودی او قرآن ورته ولولی او دهغه بندی خلاص کې سمدستی عمیر رضی الله عنه ته بندی وسپارل سو ، عمیر رضی الله عنه غوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ ما دالله ﷻ ددین اورنا دمړه کولو دپاره ډیری هڅی وکړی او کومو خلکو چې دالله عزوجل دین قبول کړی وو پرهغوئ مې رنګارنګ ظلمونه کړی دی اوس ته ماته اجازه راکړه چې مکی ته ولاړ سم الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ته خلک رابولم او داسلام بلنه ورکوم کیدای سی الله تعالی دوئ ته لارښوونه وکوی او دالله ﷻ دښمنانو ته تکلیف ورسوم لکه مخکې چې ما دالله ﷻ دوستانو ته تکلیفونه رسولی وو ؟ رسول الله ﷺ اجازه ورکړه عمیر رضی الله عنه له مدینې روان سو مکی ته ولاړی ، عمیر رضی الله عنه لامکی ته وورسیدلی چې صفوان بن امیه خلکو ته ویل اې خلکو په دې لنډو ورځو کې به زه تاسو ته داسې دخوشالۍ زیری واوروم چې دبدر ورځ به موهیره سی صفوان به له هر راتلونکی څخه دعمیر رضی الله عنه دحال پوښتنه کوله ترڅو چې دعمیر رضی الله عنه له اسلام راوړلو خبر سو ددې خبر په اوریدو سره پر صفوان اور بل سو او قسم یې وخوړی چې قسم په الله ﷻ که له عمیر رضی الله عنه سره یوه خبره هم وکوم او نه به هغه ته هیڅ ګټه رسوم ، عمیر رضی الله عنه مکی ته راورسیدی او داسلام په بلنه مشغول سو ډیر خلک دده په لاس مسلمانان سو او کوم خلک چې داسلام دښمنان وو هغه یې ښه تکلیفونه ورسول .

دکوچنی اختر لمونځ

دبدر له راستنیدو وروسته دکوچنی اختر په لومړی ورځ دکوچنی اختر لومړنی لمونځ وسو دا لومړی کوچنی اخترو و ، زرقانی جلد ، ۱ صفحه ۴۵۴)

(۱) خصائص کبری جلد ۱ /ص /۲۰۸)

یاداشت : ستاسو ددعا په هیله حمدالله ګرانولوستونکو یو ځل ما عاجز او ګنهار هم په دعاکې یادکړی ، دبدر دغازیانو نمونه دنن وخت فدایان دی لوی ښتن دی شهادتونه قبول کې (کال ۱۳۹۲ هجری شمی ۲۰۱۴ میلادی دهجرت نری کوټه)

سیف لودین کتابتون

دبدر دغازيانو فضائل اوصفات

له علي كرم الله وجهه څخه روايت سوى دى چې رسول الله ﷺ د حاطب بن ابى بلتعه رضي الله عنه په پيښه كې عمرفاروق رضي الله عنه ته وويل (لعل الله اطلع الى اهل بدر فقال اعملوا ماشئتم فقد وجبت لكم الجنة (١) په تحقيق سره رښتيا هم الله تعالى دبدر خلكوته راښكاره سو اوداسې يې ورته وفرمايل چې څه غواړى كوى جنت ستاسو لپاره واجب دى.

په اِعْمَلُوْا مَاشِئْتُمْ سره دبدرغازيانوته دګناهواجازه وركول نه دى مراد بلكې ددوئ رښتينوالى اواخلاص ښكاره كول مراددى چې دالله ﷻ په درباركې دبدر دغازيانو مخلصانه قربانۍ اوسرښندنې منل سوى دى دمرګ تروخته پورى دوئ يوګام هم دمحبت اووفاله لارى څخه هيڅكله نه اوړى ددوئ زړونه دالله ﷻ اوده غه درسول ﷺ له مينې ډك دى دګناه اونافرمانى لپاره ددوئ په زړوكې هيڅ ځاى نسته كه دانسانيت په تقاضايووخت كومه نافرمانى هم وكوى نوسمدستى توبه اوبښنه غواړى په هرحال كې بدريان چې هرڅه وكوى جنت ددوئ لپاره واجب دى كه اطاعت وكوى هم جنت ددوئ دپاره واجب دى اوكه بالفرض دانسانيت په تقاضاګناه وكوى نوهم الله ﷻ سمدستى دتوبې توفيق وركوى اوعاجزى ښكاره كوى په دې سره ددوئ لپاره جنت اوبښنه واجبيږى بلكې داعجيبه نه دى چې نورى لوړى درجى هم وركوى لكه د آدم عليه السلام چې په توبه كښلوسره درجى نورې هم لوړې سوى دتفصيل دپاره مدارج السالكين وګورى.

دالله ﷻ له لورى د اِعْمَلُوْا مَاشِئْتُمْ خطاب هغه چاته كيداى سى چې دهغوئ زړونه دالله ﷻ دمحبت اوويرى، اومينې څخه ډك وى اودغه رنګه دجنت زيرى هغه چاته وركوى چې دوئ په هروخت كې دخپل نفس سره دمخالفت په حالت كې وى (هذا توضيح ماقاله الحافظ ابن قيم رحمة الله عليه فى شرح هذا الحديث فى كتاب الفوائد صفحه ١٦)

له جابر رضي الله عنه څخه روايت سوى دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : (لن يدخل النار احد شهد بدراً) كوم سړى چې بدرته حاضر سوى وى هغه به هيڅ وخت دوزخ ته نه ننوزى. داحديث په مسنداحمد كې دى اوسنديې په شرط دمسلم دى، فتح البارى باب فضل من شهد بدراً)

رفاعه بن رافع رضي الله عنه فرمايې : چې يوځل جبرئيل عليه السلام دنبى كريم ﷺ په خدمت كې حاضرسو اوداپوښتنه يې وكړه چې ته بدزيانوته په څه نظرګورى ؟

رسول الله ﷺ وفرمايل : ترټولوغوره اوښه ،جبرئيل عليه السلام وويل ذغه رنګه هغه فرشتې چې بدرته حاضرى سوى دى ترټولوغوره فرشتې دى (صحيح بخارى شهود الملائكه بدراً)

(١) په مسنداحمد اوسنن ابى داؤد اومصنف ابن ابى شيبة كې د (لعل الله) پرځاى (ان الله اطلع على اهل بدر) دانّ په لفظ سره راغلى دى ځكه په ترجمه كې دتحقيق اورښتيا هم لفظ وكارول سو (فتح البارى جلد ٧ ص / ٢٣٧)

سیف لودین کتابتون

دبدر د غازیانو رضی الله تعالی عنهم شمیر څو تنه وو؟

دبدر دغازیانو ﷺ په شمیر کې مختلف روایتونه دی مشهور دادی چې درې سوه دیارلس ۳۱۳ دی ، داشتباه او اختلاف په وجه دمحدثینو اقوال مختلف دی حافظ ابن سید الناس په عیون الاثر کې ټول رایو ځای کړی دی اودرې سوه شپیته ۳۶۰ نومونه یې راوړی دی ددې دپاره چې دیوه نوم هم پاته نه سی احتیاطاً یې ټول یادکړی دی دامطلب یې نه دی چې دبدر دغازیانو شمیر درې سوه شپیته دی ، په مسند احمد او مسند بزار او معجم طبرانی کې له ابن عباس ﷺ څخه روایت سوی دی چې بدریان درې سوه دیارلس وو

له ابو ایوب انصاری ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ چې کله بدرته روان سو نولږ مخ ته ولاړی او دصحابه کرام ﷺ دشمیرلو حکم یې وکړ کله چې وشمیرل سو نو درې سوه څورلس وو رسول الله ﷺ وفرمایل بیا یې وشمیری دویم ځل یو بل سړی هم ورسره وشمیرل سو هغه لږ شاته په کمزوری اوښ باندی راروان وو نو دهغه په شمول درې سوه پنځلس سو (رواه الطبرانی والبیهقی)

له عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ چې کله دبدر په نیت روان سو نو په همدې وخت کې درې سوه پنځه لس غازیان ورسره ملګری وو ﷺ (رواه البیهقی واسناده حسن)

دادرې روایتونه خو په ښکاره مختلف دی مګر په اصل کې ټول سره یو دی ځکه که آخری سړی اونبی کریم ﷺ په دوئ کې ونه شمیرل سی نو درې سوه دیارلس کیږی او که یو وشمیری او بل نه نو بیا څورلس دی او که دواړه وشمیرل سی نو درې سوه پنځه لس دی په بدر کې څه کشران هم درسو ل الله ﷺ سره ملګری وو لکه براء بن عازب ﷺ عبد الله بن عمر ﷺ انس بن مالک ﷺ جابر بن عبد الله ﷺ مګر دوئ ته دجنګ اجازه نه ده ورکړل سوی ، که هغه کم عمره هلکان هم وشمیرل سی نو بیا ددوئ شمیر درې سوه نولس کیږی لکه چې په صحیح مسلم کې له عمر فاروق ﷺ څخه روایت سوی دی چې بدریان درې سوه نولس و

براء بن عازب ﷺ وایې چې دبدر په ورځ زه او ابن عمر ﷺ دواړه وشمیرل سو په هغه ورځ مهاجرین تر شپیته څه پورته وو او انصار ﷺ تر دوه سوه څلویښت څه زیات وو (بخاری شریف)

براء بن عازب ﷺ وایې چې موږ به داویل چې دبدر ملګری ﷺ تر درې سوه لسو څه زیات وو لکه دطالوت ملګری دومره وو هغه چې ترسیندو او ښتل او قسم په الله ﷻ ترسیند هغه خلک تیر سو کوم چې ډیر پاخه مومنان او مخلصان وو (بخاری شریف) داټول تفصیل په فتح الباری باب عدة اصحاب بدر کې یادسوی دی (۱) علامه سهیلی رحمة الله علیه لیکی چې دبدر جنګ ته دمسلمانانو دمرستی لپاره اویا ۷۰ پیرانان هم حاضر سوی وو آه

(۱) فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۲۲۶

سیف لودین کتابتون

اته کسان بیاداسی وو چی دوئ په غزاکې دعذر په وجه برخه نه درلوده مګرپه بدریانوکی وشمیرل سو اورسول الله ﷺ دغنیمت په مال کې دوئ ته برخه ورکړه
(۱) عثمان بن عفان ؓ رسول الله ﷺ په مدینه کې درقیه ؓ دناروغی په وجه پری ایښي وو
(۲) طلحه او (۳) سعید بن زید ؓ دوئ دواړه رسول الله ﷺ دقریشو دقافلی دخبر لپاره لیږلی وو
(۴) ابولبابه انصاری ؓ له روحاء څخه بیرته مدینی ته ولیږل سواوپه مدینه کې نائب وټاکل سو
(۵) عاصم بن عدی ؓ دمدینی ولوړه خوا ته دنائب په ډول ولیږل سو
(۶) حارث بن حاطب ؓ وبنی عمرو بن عوف ته ولیږل سو رسو ل الله ﷺ ته څه خبر رارسیدلی وو رسول الله ﷺ حارث بن حاطب ؓ بنی عمروبن عوف ته بیرته ولیږی.
(۷) حارث بن صمّه ؓ نوموړی رسول الله ﷺ له روحاء څخه بیرته ولیږی،
(۸) خوات بن جبیر ؓ دپښي دپنډۍ دماتیدو له کبله دصفراء څخه بیرته مدینی ته ولیږل سو دادسعدبیان دی،، اودحاکم په مستدرک کې راغلی دی چی رسو ل الله ﷺ دجعفر ؓ برخه هم ورکړه اوهغه دبدرپه وخت کې په حبشه کې وو اوویل کیږی چی سعدبن مالک ؓ یعنی دسهل ؓ پلارپرلاری وفات سو اوصبیح ؓ داحیحه مریئ دناجوړی په وجه بیرته ستون سو (۱)

دبدر دغازیانو رضی الله عنهم وعنامعهم اجمعین دنومونو خصوصیت!

محدثینو اودسیرت علماء په خپلو کتابو کې دبدر دغازیانودنومو دیادولو خاص کوشش کړی دی مګر دحروف هجا په لحاظ سره ترټولو مخکی امام بخاری رحمة الله علیه دبدریانو نومونه ترتیب کړی دی اوله بدریانو څخه یې یوائی څلویښت نومونه په خپل کتاب جامع صحیح کې یادکړی دی هغه چی دصحت اوسندله شرائطوسره برابردی (۲)
علامه وداني رحمة الله علیه وایي موږ دمشائخو دحدیث څخه اوریدلی دی چی دبخاری کتاب دبدریانونومونه دیادلوپه وخت کې دعاء قبلیږی اوډیروخت داتجربه سوی هم دی (۳)

دبدر دمهاجرینو رضی الله تعالی عنهم وعنا معهم اجمعین دنمونو فهرست

سَیِّدُالْمُهَاجِرِیْنَ وَاِمَامُ الْبَدْرِیِّیْنَ وَاَشْرَفُ الْخَلَائِقِ اَجْمَعِیْنَ خَاتَمُ الْاَنْبِیَاءِ وَالْمُرْسَلِیْنَ سَیِّدُنَاَ وَمَولَانَاَ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمْ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ وشرف وکرم الی یوم الدین:
(۱) ابوبکرالصدیق ؓ (۲) ابوحفص عمربن الخطاب ؓ (۳) ابوعبدالله عثمان بن عفان ؓ (۴) ابوالحسن علی بن ابی طالب ؓ (۵) حمزةبن عبدالمطلب ؓ (۶) زیدبن حارثه ؓ (۷) انسه حبشی درسول الله ﷺ مریئ (۸) اوکبشه فارسی درسول الله ﷺ مریي ؓ (۹) ابومرثدکنازبن حصن ؓ (۱۰) مرثدبن ابی مرثد ؓ یعنی دکنازبن حصن زوی (۱۱) عبیدة بن الحارث ؓ اودهغه دواړه وروڼه (۱۲) طفیل بن حارث ؓ

(۱) زرقانی جلد۱ /ص/۴۰۹) ——— (۲) فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۲۵۳) ——— (۳) زرقانی جلد۱ /ص/۴۰۹)

سيف لودين كتابتون

حصين بن حارث رضي الله عنه (۱۴) مسطح عوف بن اثاثه رضي الله عنه (۱۵) ابوحذيفة بن ربيعه رضي الله عنه (۱۶) سالم دابي حذيفه رضي الله عنه مريئ (۱۷) صبيح رضي الله عنه دابي العاص اميه مريئ (۱۸) عبدالله بن جحش رضي الله عنه (۱۹) عکّاشه بن محصن رضي الله عنه (۲۰) شجاع بن وهب رضي الله عنه او دهغه دواړه ورونه (۲۱) عقبة بن وهب رضي الله عنه (۲۲) يزيدبن رقيش رضي الله عنه (۲۳) ابوسنان بن محصن رضي الله عنه يعني دعکاشه بن محصن ورور (۲۴) سنان بن ابي سنان رضي الله عنه يعني دعکاشه بن محصن رضي الله عنه وراره اودابوسنان بن محصن رضي الله عنه زوی (۲۵) محرزبن نضله رضي الله عنه (۲۶) ربيعة بن اکثم رضي الله عنه (۲۷) ثقف بن عمرو رضي الله عنه اودهغه دواړه ورونه (۲۸) مالک بن عمر رضي الله عنه (۲۹) مدلج بن عمر رضي الله عنه (۳۰) سويدبن مخشي رضي الله عنه (۳۱) عتبه بن غزوان رضي الله عنه (۳۲) خباب رضي الله عنه دعتبه بن غزوان مريئ رضي الله عنه [۱] (۳۳) زبيربن عوام رضي الله عنه (۳۴) حاطب بن ابي بلتعه رضي الله عنه (۳۵) سعد کلبي رضي الله عنه دحاطب بن ابي بلتعه مريئ رضي الله عنه (۳۶) مصعب بن عمير رضي الله عنه (۳۷) سويط بن سعد رضي الله عنه (۳۸) عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه (۳۹) سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه اودهغه ورور (۴۰) عميربن ابي وقاص رضي الله عنه (۴۱) مقدادبن عمرو رضي الله عنه (۴۲) عبدالله بن مسعود رضي الله عنه (۴۳) مسعودبن ربيعه رضي الله عنه (۴۴) ذوالشمالين بن عبدعمرو رضي الله عنه (۴۵) خباب بن الارت رضي الله عنه (۴۶) بلال بن رباح رضي الله عنه (۴۷) عامربن فهيره رضي الله عنه (۴۸) صهيب بن سنان رومي رضي الله عنه (۴۹) طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه (۵۰) ابوسلمة بن عبدالاسد رضي الله عنه (۵۱) شماس بن عثمان رضي الله عنه (۵۲) ارقم بن ابي الارقم رضي الله عنه (۵۳) عماربن ياسر رضي الله عنه (۵۴) معتب بن عوف رضي الله عنه (۵۵) زيدبن الخطاب رضي الله عنه يعني د عمرفاروق رضي الله عنه ورور (۵۶) مهجع دعمربن الخطاب رضي الله عنه مريئ رضي الله عنه (۵۷) عمروبن سراقه رضي الله عنه اودهغه ورور (۵۸) عبدالله بن سراقه رضي الله عنه (۵۹) واقدبن عبدالله رضي الله عنه (۶۰) خولي بن ابي خولي رضي الله عنه (۶۱) مالک بن ابي خولي رضي الله عنه (۶۲) عامر بن ربيعه رضي الله عنه (۶۳) عامربن بکير رضي الله عنه (۶۴) عاقل بن بکير رضي الله عنه (۶۵) خالدبن بکير رضي الله عنه (۶۶) آياس رضي الله عنه (۶۷) سعيدبن زيد بن عمرو بن نفيل رضي الله عنه (۶۸) عثمان بن مظعون جمحي رضي الله عنه اودهغه زوی (۶۹) سائب بن عثمان رضي الله عنه (۷۰) قدامة بن مظعون رضي الله عنه (۷۱) عبدالله بن مظعون رضي الله عنه (۷۲) معمربن حارث رضي الله عنه (۷۳) خنيس بن حذافه رضي الله عنه (۷۴) ابوسبرة بن ابي رهم رضي الله عنه (۷۵) عبدالله بن محرمه رضي الله عنه (۷۶) عبدالله بن سهيل بن عمرو رضي الله عنه (۷۷) عميربن عوف دسهيل بن عمر رضي الله عنه مريئ رضي الله عنه (۷۸) اسعدبن خوله رضي الله عنه (۷۹) ابوعبيده عامربن الجراح رضي الله عنه (۸۰) عمرو بن حارث رضي الله عنه (۸۱) سهيل بن وهب[۲] رضي الله عنه اودده ورور (۸۲) صفوان بن وهب رضي الله عنه (۸۳) عمروبن ابي سرح رضي الله عنه (۸۴) وهب بن سعد [۳] رضي الله عنه (۸۵) حاطب بن عمرو رضي الله عنه (۸۶) عياض بن ابي زهير رضي الله عنه

---

(۱) دغه خباب رضي الله عنه دعتبه بن غزوان آزادسوی مريي دی خباب بن ارت رضي الله عنه هغه چې له سابقينواولينوڅخه دی له ده بيل بل څوک دی يواځي په نامه کې سره يودی)

(۲) دسهيل رضي الله عنه اوصفوان رضي الله عنه دپلارنوم وهب دی اودمورنوم يې بيضاء وه دوئ دواړه دبيضاء په زامنومشهوردی)

(۳) ابن هشام وايي همدا آخري درې ابن اسحاق نه دی ذکرکړي مگر نورو علماء درې واړه په بدريانوکې شميرلی دی)

سيف لودين كتابتون

د بدريانو انصارو رضی الله تعالی عنهم وعنا معهم اجمعين د نومونو ليسټ

(١) سعدبن معاذ ؓ (٢) عمربن معاذ ؓ يعني دسعد ؓ ورور (٣) حارث بن اوس بن معاذ ؓ يعني دسعد ؓ وراره (۴) حارث بن انس ؓ (۵) سعدبن زيد ؓ (۶) سلمة بن سلامة بن وقش ؓ (٧) عبادبن بشربن وقش ؓ (٨) سلمة بن ثابت بن وقش ؓ (٩) رافع بن يزيد ؓ (١٠) حارث بن خزيمه ؓ (١١) محمدبن مسلمة ؓ (١٢) سلمة بن اسلم ؓ (١٣) ابوالهيثم بن التيهان ؓ (١۴) عبدالله بن سهل ؓ (١۵) عبيدبن التيهان ؓ (١۶) قتاده بن النعمان ؓ (١٧) عبيدبن اوس ؓ (١٨) نضربن الحارث ؓ (١٩) معتب بن عبيد ؓ (٢٠) عبدالله بن طارق ؓ (٢١) مسعودبن سعد ؓ (٢٢) ابوبرده بن نيار ؓ (٢٣) ابوعبس بن جبير ؓ (٢۴) عاصم بن ثابت ؓ (٢۵) معتب بن قشير ؓ (٢۶) عمرو بن معبد ؓ (٢٧) سهل بن حنيف ؓ (٢٨) مبشربن عبدالمنذر ؓ (٢٩) رفاعة بن عبدالمنذر ؓ (٣٠) سعدبن عبيدبن النعمان ؓ (٣١) عويم بن ساعده ؓ (٣٢) رافع بن عنجده ؓ (٣٣) عبيدبن ابی عبيد ؓ (٣۴) ثعلبه بن حاطب ؓ (٣۵) ابولبابة بن عبدالمنذر ؓ (٣۶) حارث بن حاطب ؓ (٣٧) حاطب بن عمرو ؓ (٣٨) عاصم بن عدی ؓ (٣٩) انيس بن قتاده ؓ (۴٠) معن بن عدی ؓ (۴١) ثابت بن اقوم ؓ (۴٢) عبدالله بن سلمة ؓ (۴٣) زيدبن اسلم ؓ (۴۴) ربعی بن رافع ؓ (۴۵) عبدالله بن جبير ؓ (۴۶) عاصم بن قيس ؓ (۴٧) ابوضيّاح بن ثابت ؓ (۴٨) ابودحنة بن ثابت ؓ (۴٩) سالم بن عمير ؓ (۵٠) حار ث بن النعمان ؓ يعني دخوات بن جبير بن النعمان اوعبدالله بن جبير ؓ اكا (۵١) خوا ت بن جبير بن النعمان ؓ (۵٢) منذربن محمد ؓ (۵٣) ابوعقيل بن عبدالله ؓ (۵۴) سعدبن خيثمة ؓ (۵۵) منذر بن قدامه ؓ (۵۶) مالک بن قدامه ؓ (۵٧) حارث بن عرفجه ؓ (۵٨) تميم ؓ دسعدبن خيثمه ؓ مريئ (۵٩) جعفربن عتيک ؓ (۶٠) مالک بن نميله ؓ (۶١) نعمان بن عصر ؓ (۶٢) خارجة بن زيد ؓ (۶٣) سعدبن ربيع ؓ (۶۴) عبدالله بن رواحه ؓ (۶۵) خلادبن سويد ؓ (۶۶) بشيربن سعد ؓ (۶٧) سماک بن قيس ؓ (۶٩) عبادبن قيس ؓ دواړه ورونه ی (٧٠) عبدالله بن عبس ؓ (٧١) يزيدبن حارث ؓ (٧٢) خبيب بن اساف ؓ (٧٣) عبدالله بن زيدبن ثعلبه ؓ (٧۴) حريث بن زيدبن ثعلبه ؓ دواړه ورونه دی (٧۵) سفيان بن بشر ؓ (٧۶) تميم بن يعار ؓ (٧٧) عبدالله بن عمير ؓ (٧٨) زيدبن المزين ؓ (٧٩) عبدالله بن عرفطه ؓ (٨٠) عبدالله بن ربيع ؓ (٨١) عبدالله بن عبدالله بن ابی ؓ يعني درئيس المنافقين عبدالله بن ابی بن سلول زوی (٨٢) اوس بن خولی ؓ (٨٣) زيدبن وديعه ؓ (٨۴) عقبة بن وهب ؓ (٨۵) رفاعه بن عمرو ؓ (٨۶) عامر بن سلمه ؓ (٨٧) معبدبن عبّاد ؓ (٨٨) عامر بن البكير ؓ (٨٩) نوفل بن عبدالله ؓ (٩٠) عبادة بن

سیف لودین کتابتون

الصامت ؓ (۹۱) اوس بن الصامت ؓ (۹۲) نعمان بن مالک ؓ (۹۳) ثابت بن هزال ؓ (۹۴) مالک بن جعشم ؓ (۹۵) ربیع بن ایاس ؓ (۹۶) ورقه بن آیاس ؓ (۹۷) عمروبن ایاس ؓ ربیع اوورورقه دورقه وروڼه دي علی اختلاف الاقوال (۹۸) مجذبن زیاد ؓ (۹۹) عبادبن خشخاش ؓ (۱۰۰) نحاب بن ثعلبه ؓ (۱۰۱) عبدالله بن ثعلبه ؓ دواړه وروڼه دي (۱۰۲) عتبه بن ربیعه ؓ (۱۰۳) ابودجانه سماک بن خرشه ؓ (۱۰۴) منذربن عمر ؓ (۱۰۵) ابواسید مالک بن ربیعه ؓ (۱۰۶) مالک بن مسعود ؓ (۱۰۷) عبدربه بن حق ؓ (۱۰۸) کعب بن جمّاز ؓ (۱۰۹) ضمرة بن عمر ؓ (۱۱۰) زیادبن عمر ؓ (۱۱۱) بسبس بن عمر ؓ (۱۱۲) عبدالله بن عامر ؓ (۱۱۳) قراش بن صمه ؓ (۱۱۴) حباب بن منذر ؓ (۱۱۵) عمیربن الحمام ؓ (۱۱۶) تمیم ؓ دخراش ؓ مریئ (۱۱۷) عبدالله بن عمروبن حرام ؓ (۱۱۸) معاذبن عمرو بن الجموح ؓ (۱۱۹) معوذبن عمروبن الجموح ؓ (۱۲۰) خلادبن عمرو بن الجموح ؓ (۱۲۱) عقبه بن عامر ؓ (۱۲۲) حبیب بن اسود ؓ (۱۲۳) ثابت بن ثعلبه ؓ (۱۲۴) عمیربن الحارث ؓ (۱۲۵) بشربن البراء ؓ (۱۲۶) طفیل بن مالک ؓ (۱۲۷) طفیل بن نعمان ؓ (۱۲۸) سنان بن صیفی ؓ (۱۲۹) عبدالله بن جدبن قیس ؓ (۱۳۰) عتبه بن عبدالله ؓ (۱۳۱) جبار بن صخر ؓ (۱۳۲) خارجه بن حمیر ؓ (۱۳۳) عبدالله بن حمیر ؓ (۱۳۴) یزیدبن المنذر ؓ (۱۳۵) معقل بن المنذر ؓ (۱۳۶) عبدالله بن النعمان ؓ (۱۳۷) ضحاک بن حارثه ؓ (۱۳۸) سعادبن قیس ؓ (۱۳۹) معبدبن قیس ؓ (۱۴۰) عبدالله بن قیس ؓ دواړه وروڼه دي (۱۴۱) عبدالله بن مناف ؓ (۱۴۲) جابربن عبدالله بن رئاب ؓ (۱۴۳) خلیدبن قیس ؓ (۱۴۴) نعمان بن سنان ؓ (۱۴۵) ابوالمنذر یزیدبن عامر ؓ (۱۴۶) سلیم بن عمر ؓ (۱۴۷) قطبه بن عامر ؓ (۱۴۸) عنتره دسلیم بن عمرو ؓ مریئ ؓ (۱۴۹) عیس بن عامر ؓ (۱۵۰) ثعلبه بن غنمه ؓ (۱۵۱) ابوالیسر کعب بن عمرو ؓ (۱۵۲) سهیل بن قیس ؓ (۱۵۳) عمروبن طلق ؓ (۱۵۴) معاذبن جبل ؓ (۱۵۵) قیس بن محصن ؓ (۱۵۶) حارث بن قیس ؓ (۱۵۷) جبیربن آیاس ؓ (۱۵۸) اسعدبن عثمان ؓ (۱۵۹) عقبه بن عثمان ؓ دواړه وروڼه دي (۱۶۰) ذکوان بن عبدقیس ؓ (۱۶۱) مسعودبن خلده ؓ (۱۶۲) عبادبن قیس ؓ (۱۶۳) اسعدبن یزید ؓ (۱۶۴) فاکهه بن بشر ؓ (۱۶۵) معاذبن ماعص ؓ (۱۶۶) عائذبن ماعص ؓ دواړه وروڼه دي (۱۶۷) مسعودبن سعد ؓ (۱۶۸) رفاعه بن رافع ؓ (۱۶۹) خلادبن رافع ؓ دواړه وروڼه دي (۱۷۰) عبیدبن زید ؓ (۱۷۱) زیادبن لبید ؓ (۱۷۲) افرده بن عمر ؓ (۱۷۳) خالد بن قیس ؓ (۱۷۴) جلة بن ثعلبة ؓ (۱۷۵) عطیه بن نویره ؓ (۱۷۶) خلیقة بن عدی ؓ (۱۷۷) عمارة خرم ؓ (۱۷۸) سراقه بن کعب ؓ

(۱۷۹) حارثه بن النعمان رضي الله عنه (۱۸۰) سليم بن قيس رضي الله عنه (۱۸۱) سهيل بن قيس رضي الله عنه (۱۸۲) عدى بن غبار رضي الله عنه (۱۸۳) مسعودبن اوس رضي الله عنه (۱۸۴) ابوخزيمة بن اوس رضي الله عنه (۱۸۵) رافع بن حارث رضي الله عنه (۱۸۶) عوف بن حارث رضي الله عنه (۱۸۷) معوذبن حارث رضي الله عنه (۱۸۸) معاذبن حارث رضي الله عنه دري سره دعفراء رضي الله عنها زامن دى (۱۸۹) نعمان بن عمرو رضي الله عنه (۱۹۰) عامربن نخله رضي الله عنه (۱۹۱) عبدالله بن قيس رضي الله عنه (۱۹۲) عصيمه اشجعى رضي الله عنه (۱۹۳) وديقه بن عمرو رضي الله عنه (۱۹۴) ابوالحمراء رضي الله عنه دحارث بن غفار رضي الله عنه مريئ (۱۹۵) ثعلبه بن عمرو رضي الله عنه (۱۹۶) سهيل بن عتيک رضي الله عنه (۱۹۷) حارث بن صمه رضي الله عنه (۱۹۸) ابى بن كعب رضي الله عنه (۱۹۹) انس بن معاذ رضي الله عنه (۲۰۰) اوس بن ثابت رضي الله عنه (۲۰۱) ابوشيخ بن ثابت رضي الله عنه (۲۰۲) ابوطلحه زيدبن سهيل رضي الله عنه يعنى دحسان بن ثابت رضي الله عنه ورور (۲۰۳) حارثه بن سراقه رضي الله عنه (۲۰۴) عمرو بن ثعلبه رضي الله عنه (۲۰۵) سليط بن عمرو رضي الله عنه (۲۰۶) ابوسليط بن عمرو رضي الله عنه (۲۰۷) ثابت بن حسان رضي الله عنه (۲۰۸) عامر بن اميه رضي الله عنه (۲۰۹) محرز بن عامر رضي الله عنه (۲۱۰) سوادبن غزيه رضي الله عنه (۲۱۱) ابوزيد قيس بن سكن رضي الله عنه (۲۱۲) ابوالاعور بن حارث رضي الله عنه (۲۱۳) سليم بن طحان رضي الله عنه (۲۱۴) حرام بن طحان رضي الله عنه (۲۱۵) قيس بن ابى صعصعة رضي الله عنه (۲۱۶) عبدالله بن كعب رضي الله عنه (۲۱۷) عصيمه اسدى رضي الله عنه (۲۱۸) ابوداؤد عميربن عامر رضي الله عنه (۲۱۹) سراقه بن عمرو رضي الله عنه (۲۲۰) قيس بن مخله رضي الله عنه (۲۲۱) نعمان بن عبدعمر رضي الله عنه (۲۲۲) حماک بن عبدعمر رضي الله عنه (۲۲۳) سليم بن حارث رضي الله عنه (۲۲۴) جابربن خالد رضي الله عنه (۲۲۵) سعدبن سهيل رضي الله عنه (۲۲۶) كعب بن زيد رضي الله عنه (۲۲۷) يجيربن ابى يجير رضي الله عنه (۲۲۸) عتبان بن مالک رضي الله عنه (۲۲۹) مليل بن مالک رضي الله عنه (۲۳۰) عصمة بن الحصين رضي الله عنه (۲۳۱) بلال بن المعلى رضي الله عنه (رضى الله تعالى عنهم اجمعين)

دبدر دملائكه وو عليهم السلام نومونه

دبدرپه جنګ کې دملائکوله اسمان څخه راکښته کيدل دمسلمانانودمرستي لپاره اوپه جنګ کی شريک کيدل په قرآني آياتو اونبوي احاديثوثابت دى لكه چى مخكې تيرسو مګر دحديثوله رواياتوڅخه يوائى ددرې ملائکونومونه ثابت سوى دى چى هغه لوستونكوته ډالۍ كوو (۱) افضل الملائكه المكرمين [۱] امين الله تعالى بينه وبين الانبياء والمرسلين سيدنا جبرئيل عليه الصلوة والتسليم (رواه البخارى عن ابن عباس رضي الله عنه (۲) سيدنا ميكائيل عليه الصلوة والسلام (۳) سيدنا اسرافيل عليه الصلوة والسلام (اخرجه احمدوالبزار وابويعلى والحاكم وصححه والبيهقى عن على رضي الله عنه وخصائص كبرى جلد۱، صفحه ۲۵۱)

لكه څنګه چى په حديث شريف کې اول دجبرئيل عليه السلام بيا ميكائيل عليه السلام او بيا داسرافيل عليه السلام له اسمان دراكښته كيدو يادونه سوى ده په دې وجه په ذكرنزولى ترتيب اسره ولوستل سو

---

(۱) له قرآن او احاديث دا ښکاره معلومېږي چى جبرئيل عليه السلام ترټولو فرشتو غوره دى له ابن عباس رضي الله عنهما څخه په ضعيف سند سره روايت سوى دى وايي چى رسول الله ﷺ وفرمايل (الا اخبركم بافضل الملائكة جبرئيل عليه السلام (روح المعانى جلد۱ /ص/ ۳۰۱)

سيف لودين كتابتون

دبدر د شهيدانو رضی الله تعالی عنهم ورضوا عنه نومونه !

قال الله عزوجل (وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ (١٦٩) فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (١٧٠)

(١) شهيد بدر عبيدة بن الحارث بن مطلب مهاجر رضی الله تعالی عنه دبدر په جګړه کې ټپی سو ښپه يې پرې سوه دوئ ترصفراء پورې ورسوی کله چې هلته ورسيدی شهيد سو رسو ل الله ﷺ په هم هغه ځای کې ښخ کی ويل کيږی چې يو وخت رسول الله ﷺ له خپلو ملګرو ﷺ سره په صفراء کې کښته سو صحابه کرام ﷺ پوښتنه وکه يارسول الله ﷺ دلته دمشکو خوشبويې ځی رسول الله ﷺ وفرمايل هيڅ عجيبه نه دی ځکه دلته خو دابومعاويه قبردی (دعبيدة بن الحارث کنيه دی) الاستيعاب للحافظ ابن عبدالبر جلد١، صفحه ۴۲۵، ترجمه عبيدة بن الحارث ﷺ داصابه پرحاشيه باندی)

(٢) شهيد بدر عميربن ابی وقاص مهاجر ﷺ دسعدبن وقاص ﷺ کشر ورور دی سعدبن ابی وقاص ﷺ فرمايې کله چې بدرته خلک رايوځای سو نوما خپل ورور عمير ﷺ وليدی چې يوی خوا او بلی خواته پټ پټ کيږی ما ورته وويل وروره ولی پټيږی تاته څه درپيښه ده ده راته وويل زه بيريږم چې رسول الله ﷺ به ماووينی اوپه کوچنيانو کې به می حساب کې اوبيرته به مې وګرزوی اوزه غواړم چې جهادته ولاړ سم کيدای سی الله تعالی ماته شهادت رانصيب کی ، کله چې رسول الله ﷺ دلښکر ليدنه کتنه کوله نو عمير ﷺ يې وليدی رسول الله ﷺ ده ته دکوچنيوالی په وجه دبيرته تلو حکم وکړ عمير ﷺ چې کله دا واوريدل وې ژړل رسول الله ﷺ چې کله دهغه ډيره مينه اوشوق وليدی نواجازه يې ورکړه دبدر جنګ ته ولاړی اوهم هلته شهيد سو عمير ﷺ دشهادت په وخت کې دشپاړس کاله وو (١)

(٣) شهيد بدر ذوالشمالين بن عبد عمرو مهاجر ﷺ امام زهری اوابن سعد اوابن سمعانی فرمايې چې ذواليدين اوذوالشمالين ديوه سړی دوه نمونه دی اود جمهورو محدثينو په نزد دوه بيل خلک دی ذوالشمالين ﷺ دبدر په جنګ کې شهيد سوی دی اوذواليدين ﷺ د رسول الله ﷺ تروفات وروسته هم ژوندی وو .

(۴) شهيد بدر :عاقل بن البکير مهاجر ﷺ له سابقين اولين څخه دی په دارارقم کې په اسلام مشرف سوی دی پخواني نوم يې غافل وو بيا رسول الله ﷺ عاقل نوم باندی کيښودی ، اصابه ترجمه عاقل بن بکير ﷺ داسلام ترشرف مخکې له آخرته ناخبره اوغافل وو اوداسلام ترراوړلو وروسته هوښيار اوعاقل سو نوځکه عاقل نوم باندی کيښودل سو والله اعلم دبدر په غزاکې شهيد سو په دغه وخت کې دڅلور ديرش کاله وو (٢)

---

(١) الطبقات الکبری جلد ٢ /ص /١٠٦، اصابه جلد ٣ /ص /٣٥)______(٢) طبقات الکبری جلد ٢ /ص /٢٨٢)

سیف لودین کتابتون

(۵)شهید بدر :مهجع بن صالح ؓ دعمربن الخطاب ؓ مریئ له سعید بن مسیب ؓ څخه روایت سوی دی چی دجنګ په وخت دمهجع ؓ په ژبه باندی داالفاظ جاری وو (اَنَامِهۡجَعُ وَاِلَیٰ رَبِّی اَرۡجِعُ) زه مهجع یم اوخپل رب ته ور تلونکی یم (رواه ابن ابی شیبه (۱)

(۶)شهیدبدر: صفوان بن بیضاء مهاجر ؓ دده بدری کیدل خومنل سوی خبرده مګر دبدرپه غزاکې دده شهیدکیدل مختلف فیه دی ، ابن اسحاق اوموسی بن عقبه اوابن سعدوایې چی دبدرپه غزاکې دطعیمة بن عدی په لاس شهیدسوی دی ابن حبان وایې په کال ۳۰ هجری کې اوحاکم وایې په کال ۳۸ هجری کې وفات سوی دی ،
والله سبحانه وتعالی اعلم (اصابه ترجمه صفوان بن بیضاء ؓ)

(۷) شهیدبدر سعدبن خیثمه انصاری ؓ صحابی دصحابی زوی شهید اودشهیدزوی دی سعد ؓ دبدرپه غزاکې شهیدسو اودده پلارخیثمه ؓ داحدپه غزاکې شهیدسو سعد ؓ دعقبه په بیعت کې هم شریک وو رسو ل الله ﷺ نوموړی دبنی عمرو قبیلی مشرسردار ټاکلی وو (اصابه)

رسول الله ﷺ چی کله دقریشودقافلی دوتلودپاره امر وکړ نوخیثمه ؓ سعد ؓ ته وویل اې زویه زموږڅخه یوباید دکوراوماشومانواوښځودساتنی لپاره پاته سی ته داقربانی ورکه اوماته له رسو ل الله ﷺ سره دتللواجازه راکړه ؟ سعد ؓ ددې خبری له منلوانکار وکی داسی یې وویل (لوکان غیرالجنة آثرتک به انی ارجواالشهادة فی وجهی هذا) له جنت پرته که بل کار وای نوهرومروبه می قربانی کړی وو اوتاته به مې پرخپل ځان باندی غوراوی درکړی وو مګر زه په دې سفرکې دشهادت ډیره تمه لرم .
تردې خبرو وروسته ددواړوپه خپل مینځ کې فچه سره واچوله پچه دسعد ﷺ په نوم راوخلته زوی ترپلارډیر دښه نصیب خاوندسو اودبدرجنګ ته روان سو په جنګ کې دعمرو بن عبدود یاطعیمةبن عدی په لاس شهیدسو رضی الله تعالی عنه اناللهوانا الیه راجعون)

(۸) مبشربن عبدالمنذرانصاری ؓ

(۹) یزیدبن حارثه انصاری ؓ

(۱۰) عمیربن الحمام انصاری ؓ

په صحیح مسلم کې له انس ؓ څخه روایت سوی دی چی رسول الله ﷺ دبدرپه ورځ وفرمایل اې خلکوولاړسی دجنت ولوری ته هغه جنت ته چی دهغه پلنوالی داسمان اوځمکی برابردی ، رسول الله ﷺ داخبره وکړه عمیر ؓ وویل بخ بخ یعنی واه واه رسول الله ﷺ ځنی وپوښتل اې عمیر ؓ ولی دې واه واه وویل ، عمیر ؓ وویل یارسول الله ﷺ قسم په

(۱) کنزالعمال جلد ۵ /صفحه ۲۶۹)

سيف لودين كتابتون

الله ﷻ که می په بل هيڅ وجه ويلی وی پرته له دې چې زه اميد لرم چې کيدای سی زه هم له جنتيانو څخه سم ، رسول الله ﷺ وفرمايل فانک من اهلها ،، ته خويقيناً جنتی يې تردې وروسته يې خورماوی له کڅوړی خورمارا وايستی اوخوراک يې پيل کړ خوسمدستی هغه خورماييرته وغورزولی اووې ويل که زه په خوراک بوخت سم نوبيا خوژوند بيخی اوږدېږی اودجنګ ډګرته يې ورودانګل ترڅو چې شهيد سو رضی الله تعالی عنه ..

دابن اسحاق په روايت کې راغلی دی چې عمير ﷺ توره په لاس کې واخيسته اوداکلمات يې پرژبه جاری وو : رکضاً الی الله بغير زادِ................ الاتق وعمل المعاد

الله تعالی ته بی له توښی ورمنډه کړه مګر پرهيزګاری اودآخرت عمل اوجهاد فی سبيل الله اوصبردالله ﷻ په لارکې پرجهاد

وکل زاد عُرضَةُ النفاد................. غيرالتق والبر والرشاد

اوهره توښه ختميدونکی ده ، مګر دپرهيزګاری اونيکۍ اوهدايت توښه هيڅکله نه ختميږی اونه نيستی کيږی (١)

(١١) رافع بن معلی انصاری ؓ

(١٢) حارثه بن سراقه ؓ حارثه بن سراقه ؓ صحابی اودصحابی زوی شهيد اود شهيد زوی دی حارثه ؓ دبدرپه غزاکی شهيد سو اوسراقه ؓ دحنين په غزاکې شهيد سو ، فتح الباری باب فضل من شهد بدراً »

له انس ؓ څخه روايت دی چې حارثه ؓ په بدرکښی شهيد سو اوهغه ځوان وو کله چې رسول الله ﷺ له بدرڅخه راغلی نودحارثه ؓ مورربيع بنت نضر درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضره سوه اوپوښتنه يې وکړه چې يارسول الله ﷺ ته ښه په دې خبريې چې زما له خپل زوی حارثه ؓ سره څومره مينه اومحبت وو که هغه په جنت کې وی نوزه به صبروکوم اوله الله ﷻ به دثواب اميدلرم اوکه بل څه پيښه وی نوبيابه ته ماووينی چې زه څه کوم يعنی ښه ډيره ژړا اوفرياد به کوم ؟

رسول الله ﷺ وفرمايل آيا ليونۍ سوی خونه يې يوجنت نه دهغه دپاره جنتونه دی اوريښتيا هم بيشکه هغه په جنت الفردوس کې دی (صحيح البخاری غزوه بدر)

(١٣) شهيدبدر عوف بن حارث انصاری ؓ

(١٤) معوذبن حارث انصاری ؓ دوئ دواړه ورونه دي دمور نوم يې عفراء دی دعوف بن حارث ؓ دشهادت قصه مخکې تيره سوه .

---

(١) الاستيعاب للحفاظ ابن عبدالبرجلد ٢، صفحه ٤٨٢، حاشيه اصابه واصابه جلد ٢، صفحه ٣١ ترجمه عميربن حمام ؓ زرقانی جلد ١، صفحه ١٤٤ البدايه والنهايه جلد ٣، صفحه ١٧٧)

سیف لودین کتابتون

دعبدالله ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چی درسول الله ﷺ چی کوم ملګری.په بدرکې شهیدان سو الله تعالی په هغوئ باندی تجلی وکړه اوپه خپل دیدار سره یې دهغوئ سترګې روښانه کړی اووې فرمایل اې زمابندګانوڅه غواړی شهیدانوورته وویل اې ربه کوم نعمتونه چی تاراکړی دی تردې هم لوی نعمت سته ؟ الله تعالی وفرمایل : وڅ ایاست څه غواړی درې ځله یې ورته فرمایل څلورم ځل صحابه رضی الله عنهم وویل اې زموږ رب عزوجل موږ غواړوچی زموږ روحونه بیرته بدنوته ولیږی ددې دپاره چی بیاستا په لارکې ووژل سو لکه اوس چی وژل سوی یو (رواه الطبرانی ورجاله ثقات وهذاموقوف لفظا مرفوع حکماً لانه لامدخل للرأی فیه (۱) والله اعلم

دبدردبندیانونومونه

له صحی روایتوڅخه مخکې معلومه سوه چی دبدرپه جنګ کې اویا ۷۰ مشرکین ووژل سو او اویا ۷۰ بندیان سو ابن هشام په روایت دمحمدبن اسحق اوحافظ ابن سیدالناس په عیون الاثرکې دوژل سویواوبندیانونومونه یادکړی دی اوس دبدردمشهورو بندیانو نومونه ذکر کیږی اوهغه بندیان چی په اسلام مشرف سوی دی دهغوئ نومونه له وضاحت سره وړاندی کیږی

(۱) عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه درسول الله ﷺ آکامحترم په عمرکې ترسول الله ﷺ دوه کاله مشروو دمکی ترفتح لږمخکې په ښکاره داسلام اعلان وکی رضی الله عنه

(۲) عقیل بن ابی طالب رضی الله عنه درسول الله ﷺ داکازوی دحدیبیه دسولی په وخت کې په اسلام مشرف سو رضی الله عنه عقیل ترجعفر لس کاله مشروو اوجعفربیا ترعلی رضی الله عنه لس کاله مشرو اودابوطالب ترټولو مشر زوی بیاترجعفر رضی الله عنه لس کاله مشروو داسلام له دولت بی برخی پاته سو نوردرې سره وروڼو عقیل رضی الله عنه جعفر رضی الله عنه اوعلی رضی الله عنه په اسلام مشرف سو رضی الله عنهم

(۳) نوفل بن حارث رضی الله عنه دده داسلام راوړلو قصه مخکې تیره سوی ویل کیږی چی دخندق دغزاپه کال په اسلام مشرف سو یعنی په کال ۵ هجری په اسلام مشرف سو.

(۴) سائب بن عبید (۵) نعمان بن عمرو (۶) عمرو بن سفیان بن حرب (۷) حارث بن ابی وحره (۸) ابوالعاص بن ربیع وروسته په اسلام مشرف سو رضی الله عنه داسلام راوړلو قصه یې مخکې تفصیلاتیره سوی (۹) ابوالعاص بن نوفل (۱۰) ابورشیدبن ابی عمر (۱۱) عمروبن ارزق (۱۲) عقبه بن عبدالحارث (۱۳)عدی بن الخیار(۱۴)عثمان بن عبدشمس (۱۵) ابوثور (۱۶) عزیزبن عمیرعبدری وروسته په اسلام مشرف سو[۲] (۱۷) اسودبن عامر (۱۸) سائب بن ابی حبیش رضی الله عنه دمکی په فتح کې په اسلام مشرف سو

---

(۱) زرقانی جلد ۲ /ص /۲۴۵) ——— (۲) روض الانف جلد ۲ /ص /۲۰۶)

سیف لودین کتابتون

دفاطمه بن ابی حبیش ورور[۱] (۱۹) حویرث بن عباد (۲۰) سالم بن شداخ (۲۱) خالدبن هشام یعنی دابوجهل بن هشام وروردی بعض علماء دئ په مؤلفة القلوب کې ذکر کړی دی [۲] (۲۲) امیه بن ابی حذیفه (۲۳) ولیدبن ولیدبن مغیره (۲۴) صیفی بن ابی رفاعه (۲۵) ابالمنذربن ابی رعاعه (۲۶) ابوعطاء عبدالله بن ابی السائب رضی الله عنه وروسته په اسلام مشرف سو دمکی قاریانو لکه مجاهد اوداسی نورو له ده څخه دقرائت علم زده کړی دی [۳] (۲۷) مطلب بن حنطب رضی الله عنه وروسته په اسلام مشرف سو[۴] (۲۸) خالدبن اعلم (۲۹) ابووداعه سهمی رضی الله عنه دمکی په فتح کې په اسلام مشرف سو (۳۰) سردةبن قیس (۳۱) حنظله بن قبیصه (۳۲) حجاج بن حارث علامه سهیلی فرمایې: چی حجاج بن حارث رضی الله عنه دحبشه له مهاجرینو څخه دی داحدله غزاوروسته له حبشه څخه مدینی ته راغلی له دې کبله دبدرپه بندیانو کې دده یادیدل دمصنف وهم دی (روض الانف جلد۲، صفحه ۱۰۷) (۳۳) عبدالله بن ابی خلف رضی الله عنه دمکی په فتح کې په اسلام مشرف سو اوپه جنګ کې شهیدسو (۳۴) ابوعزه عمرو بن عبدالله (۳۵) فاکه مولی امیه بن خلف (۳۶) وهب بن عمیردوهب اودهغه دپلارداسلام راوړلو قصه مخکې تیره سوی ده رضی الله عنهما (۳۷) ربیعه بن دراج (۳۸) سهیل بن عمرو وروسته په اسلام مشرف سو اوپه شام کې شهیدسو رضی الله عنه اوپه حدیبیه کې دقریشو له لوری دسولی لپاره داستازی په حیث راغلی وو (۳۹) عبدبن زمعه رضی الله عنه دام المؤمنین سوده بنت زمعه رضی الله عنها ورور وروسته په اسلام مشرف سو (۴۰) عبدالرحمن بن مشنوء (۴۱) طفیل بن ابی قینع (۴۲) عقبه بن عمرو (۴۳) قیس بن سائب مخزومی رضی الله عنه وروسته په اسلام مشرف سو اودجاهلیت په وخت کې درسول الله ﷺ په تجارت کې شریک وو لکه چی مخکې تیرسو (۴۴) نسطاس دامیه بن خلف رضی الله عنه مریئ داحدله غزاوروسته په اسلام مشرف سو (روض النف جلد۲، صفحه ۱۰۷)

داسلام په مقابله کې دنوم اووطن قوم ژبه تربور ګلوی په نامه جنګیدل !

دبدرغزاداسلام اوکفر جګړه وه له دې کبله الله تعالی دبدرورځی ته یوم الفرقان ویلی دی چی دحق اوباطل دجلاوالی ورځ ده په مکه مکرمه کې یوشمیرداسی خلک هم وو چی اسلام یې قبول کړی وو مګر له رسول الله ﷺ سره یې هجرت نه ووکړی دقوم اووطن په وجه په مکه کې پاته سوی وو کله چی دبدردغزاپیښه سوه نوپه هغو مسلمانانو کې څه داسی خلک هم وو چی دمشرکینو سره ملګری سو اودمسلمانانو دمقابلی لپاره راغلو اودبدرپه جنګ کې ووژل سو ددوئ په اړه داآیت نازل سو :

(۱) عیون الاثر /ص /۲۰۷، ——— (۲) اصابه جلد ۱ /ص /۴۱۲، ایضاجلد ۴ /ص /۱۳۳ باب الکنی ایضاً جلد ۲ /ص / ۶) ——— (۳) روض الانف جلد ۲ /ص / ۱۰۶، عیون الاثرصفحه ۲۰۷ ——— (۴) روض الانف جلد ۲ /ص /۱۰۶)

سیف لودین کتابتون

إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنْتُمْ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا فَأُولَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا (٩٧) إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا (٩٨) فَأُولَئِكَ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَعْفُوَ عَنْهُمْ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا (٩٩) سوره نساء

په تحقيق سره هغه خلک چې روحونه واخيستل له دوئ څخه ملائکه وو په داسې حال کې چې دوئ پر خپلو ځانو ظلم کونکی وو ملائکو دوئ ته وويل چې تاسو په کوم حالت کې واست دوئ ورته وويل چې موږ په ځمکه کې کمزوری او بې وزله وو ځکه مو هجرت ونه کی ملائکو ورته وويل آيا د الله ﷻ ځمکه فراخه نه ده چې قوم او وطن مو پرې ايښی وای او بل ځای ته مو کډه کړې وای او د داسې خلکو د اوسيدو ځای جهنم دی او دا ډير بد ځای د اوسيدو دی مگر هغه نارينه او ښځې او کوچنيان چې رښتيا هم کمزوري او ناوسه دي او د هجرت کولو هيڅ توان نه لري د داسې خلکو په اړه اميد شته چې الله تعالی د دوئ گناه وبښي او الله تعالی ډير بښونکی او مهربان ذات دی.

په صحيح بخاری کې له عبدالله بن يزيد رضی الله عنه هغه له عباس رضی الله عنه څخه روايت کوي: أَنَّ نَاسًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ كَانُوا مَعَ الْمُشْرِكِينَ يُكَثِّرُونَ سَوَادَ الْمُشْرِكِينَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَأْتِي السَّهْمُ فَيُرْمَى فَيُصِيبُ أَحَدَهُمْ فَيَقْتُلُهُ أَوْ يَضْرِبُهُ فَيَقْتُلُهُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى {إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ

ژباړه: د بدر (١) په غزاکې څه مسلمانان د مشرکينو د شمير او ډلې د زياتولو د پاره د مکې له کافرانو سره ملگري سو نو په ميدان کې به کله غشی په دې مسلمان ولگيدی او په هغه به مړسو او کله به د توري په گذار مړسو نو کوم مسلمانان چې په بدر کې د کافرانو سره راغلي وو او وژل سو د دوئ په اړه دا آيت نازل سو {إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ}

او له ابن عباس رضی الله عنه څخه هم همدا روايت امام بخاری رحمة الله عليه په کتاب الفتن کې دويم ځلی هم راوړی دی او د هغه باب ترجمه يې داسې ايښي (باب من كره ان يكثر سواد الفتن او الظلم) يعنې د اهل فتنه او کافرانو او گنهگارانو د شمير د زياتولو د بد والی بيان، شاه ولی الله قدس الله سره د دې آيت په ترجمه {إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ} په وضاحت کې فرمايي: يعنى بترک هجرت از دار حرب بدار اسلام و بتکثير، والله اعلم

له دې معلومه سوه چې د مسلمانانو د مقابلې د پاره د کافرانو په فوځ کې تلل د دې د پاره چې د کافرانو شمير زيات سی دا هم ناروا دی که څه هم د مسلمانانو سره د جنگ کولو اراده نه لري او نه جنگ وکوي خو د مسلمانانو په مقابله کې د کافرانو په فوځ کې وتل حرام او ناروا دي علماء حضرات دې فتح الباری او عمدة القاری او قسطلانی وگوري او که مو تفصيل په کار وي نو تفسير ابن کثير او قرطبی او تفسير در منثور جلد ٢ صفحه ٢٠٥ وگوري او په حديث شريف کې راغلي دي (من كثر سواد قوم فهو منهم) چا که د کوم قوم يا ډلې شمير زيات کی د غه سړی له هغه قوم څخه دی.

(١) د بدر د غزا لفظ خود بخاری په متن کې نسته مگر په بل روايت کې يادسوی دی چې هغه حافظ عسقلانی په فتح الباری جلد ٨ /ص/ ١٩٨ کتاب التفسير او بيا فتح الباری کتاب الفتن جلد ١٣ /ص/ ٣٢ کې [illegible]

سیف لودین کتابتون

دبدرغزاتاسوته دویم ځل ښه روښانه کیږی !

دبدردغزاییان خوپوره تیرسو اوپه دې اړه آیات اوصحیح اوصریح روایتونه لوستونکو ته وړاندی سو او په هغو داخبره ښه روښانه سوه چی رسول الله ﷺ دبدرپه نیت نه بلکې دقریشوپرتجارتی قافله باندی دبرید لپاره وتلی وو هغه قافله چی دابوسفیان په مشري له شام بیرته راستنیده دمکی دقریشودحملی دفاع مقصودنه وه ، خوعلاّمه شبلی په سیرة النبی کې وایې چی دبدر دغزاهدف په تجارتی قافله باندی حمله کول نه بلکې رسو ل الله ﷺ ته په مدینه کې داخبر ورسیدی چی دقریشویولوی لښکر راروان دی اوپرمدینه دحملی کولونیت لری نوځکه دبدرغزاپیښه سوه دبدرپه غزاکې درسول الله ﷺ قصدپرتجارتی قافله باندی دحملی کولونه بلکې دقریشو دحملی دفاع مقصودوه دعلامه شبلی داخبره بیخی غلط اوبی بنسټه ده دعلامه شبلی داخیال دټولو محدثینو اومفسرینو له تصریحاتو بلکې دټولوصحیح او صریح روایاتوخلاف دی ،

وَرَوَى اِبْن أَبِي حَاتِم مِنْ حَدِيث أَبِي أَيُّوب قَالَ قَالَ لَنَا رَسُول الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ بِالْمَدِينَةِ إِنِّي أُخْبِرْت عَنْ عِير أَبِي سُفْيَان فَهَلْ لَكُمْ أَنْ تَخْرُجُوا إِلَيْهَا لَعَلَّ الله يُغْنِمنَاهَا ؟ قُلْنَا نَعَمْ فَخَرَجْنَا . فَلَمَّا سِرْنَا يَوْمًا أَوْ يَوْمَيْنِ قَالَ قَدْ أُخْبِرُوا خَبَرَنَا فَاسْتَعِدُّوا لِلْقِتَالِ . فَقُلْنَا : لَا وَاَللَّه مَا لَنَا طَاقَة بِقِتَالِ الْقَوْم (وَلَكِنَّا أَرَدْنَا الْعِيرَ) فَأَعَادَهُ . فَقَالَ لَهُ الْمِقْدَاد : لَا نَقُول لَك كَمَا قَالَتْ بَنُو إِسْرَائِيل لِمُوسَى وَلَكِنْ نَقُول : إِنَّا مَعَكُمَا مُقَاتِلُونَ .

ژباړه : ابن ابی حاتم له ابوایوب انصاری ﷺ څخه روایت کړی دی وایې چی نبی کریم ﷺ موږته په مدینه کې وفرمایل چی ماته خبرراکړل سوی دی چی دابوسفیان تجارتی قافله راروانه ده آیاتاسوغواړی چی ددې تجارتی قافلی دنیولودپاره ووزی ، کیدای سی چی الله ﷻ دهغه قافلی مالونه دغنیمت په ډول موږته راکړی صحابه ﷺ وویل هوزموږخوښه ده تردې وروسته موږروان سو یوه یادوې ورځی مومزل وکړ وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل چی دمکی کافرانوته زموږدروانیدوخبررسیدلی دی اودوئ زموږدمقابلی اوجنګ دپاره تیارسوی دی تاسوهم له دوئ سره دجهاداوجنګ دپاره تیارسی ، صحابه ﷺ وویل یارسول الله ﷺ قسم په الله ﷻ (په ظاهری اسبابوکې) په موږکې هیڅ توان نسته چی موږدقریشوله مسلح لښکرسره مقابله وکوو موږخودابوسفیان دتجارتی قافلی دپاره راوتلی وو یعنی زموږددې وهم اوګمان هم نه وو چی له قریشوسره به داسی مقابله راځی چی دوئ جنګ ته تیار راوتلی وی ، رسول الله ﷺ داخبره دویم ځل بیاوکړه مقداد ﷺ ولاړسو اووې ویل یارسول الله ﷺ موږدبنی اسرائیلوپه شیرنه یو چی تاته ووایو ته اوستارب ﷻ ولاړسی اوجنګ وکوی موږدلته ناست یو بلکې موږستاراسته اوچپه مخ اوشاته هرلوری ته جنګیږو (فتح الباری جلد ۷ صفحه ۴۲۴ غزوه بدر)

(۱) بین القوسین عبارت له البدایه والنهایة جلد ۴ /ص /۲۶۲، اوتفسیرابن کثیرجلد ۲ /ص /۲۸۷ دسورت انفال په تفسیرکې ذکرسوی دی اودلته له هغه ځایه راوړل سوی دی)

سیف لودین کتابتون

اودعبدالله ابن عباس په روايت کې راغلي دي: قالوا لما سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم بأبي سفيان مقبلا من الشام ندب المسلمين إليهم، وقال هذه عيرُ قريش فيها أموالهم فاخرجوا إليها لعل الله أن يُنفلكموها فانتدب الناسُ فخف بعضهم وثقل بعضهم، وذلك أنهم لم يظنوا أن رسول الله صلى الله عليه وسلم يلقى حربا وكان أبو سفيان قد استنفر حين دنا من الحجاز يتجسس الأخبار ويسأل من لقي من الركبان تخوفا على أمر الناس حتى أصاب خبرًا من بعض الركبان أن محمدًا قد استنفر أصحابه لك ولعيرك، فَحَذِرَ عند ذلك فاستأجر ضَمْضَم بن عمرو الغفاري فبعثه إلى أهل مكة (تفسير ابن كثير جلد۲، صفحه ۲۸۸ سورة انفال)

ژباړه: نبی کريم ﷺ چې کله خبرسو چې ابوسفيان دتجارتي قافلی سره له شامه راروان دی نورسول الله ﷺ مسلمانانوته وهغه لوری دوتلوبلنه ورکړه اوداسی يې وفرمايل چې دقريشو قافله راځي او په هغې کې دقريشو بې حسابه مالونه دی نوتاسوپه دې باندی دحملی کولودپاره ووزی کيدای سی چې الله تعالی هغه ټول مالونه تاسوته په غنيمت درکی نوځه خلک له رسول الله ﷺ سره ملګری سو اوځه پاته سو ځکه دخلکوداخيال اووهم هم نه وو چې رسول الله ﷺ به له دښمنانوسره مخامخ کيږی ابوسفيان چې له شام راووتی له هرلاروی څخه به يې پوښتنی کولی کله چې ابوسفيان په دې خبرسو چې رسول الله ﷺ پرقافله باندی دحملی کولودپاره راوتلی دی نوسمدستی يې ضم ضم غفاری ته مزدوری ورکړه اومکی ته وليږی چې خلک خبرکی، الی اخرالقصه ځکه حافظ عسقلانی په شرح دبخاری کې ليکلی دی: وَالسَّبَب فِي ذَلِكَ أَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَدَبَ النَّاس إِلَى تَلَقِّي أَبِي سُفْيَان لِأَخْذِ مَا مَعَهُ مِنْ أَمْوَال قُرَيْش، وَكَانَ مَنْ مَعَهُ قَلِيلًا فَلَمْ يَظُنّ أَكْثَر الْأَنْصَار أَنَّهُ يَقَع قِتَال فَلَمْ يَخْرُجْ مَعَهُ مِنْهُمْ إِلَّا الْقَلِيل، وَلَمْ يَأْخُذُوا أُهْبَة الِاسْتِعْدَاد كَمَا يَنْبَغِي بِخِلَافِ الْمُشْرِكِينَ فَإِنَّهُمْ خَرَجُوا مُسْتَعِدِّينَ ذَابِّينَ عَنْ أَمْوَالهمْ(۱)

ژباړه: دبدردغزاسبب داوو چې رسول الله ﷺ خلکوته دابوسفيان تجارتي قافلی ته دوتلوبلنه ورکړی وه ددې دپاره چې هغه مالونه لاس ته راوړی ځکه په دې قافله کې ډير مالونه وو اوخلک لږ وو ديرش ياڅلويښت تنه به وو په دې وجه دډيروانصارو ﷺ داخيال هم نه وو چې جنګ به پښيږی ځکه لږ خلک له رسول الله ﷺ سره ملګری سو اود جنګ دپاره خاص تياری نه وکړی داسی نه وولکه مشرکين ځکه هغوئ له پوره تياری سره له مکی راوتلی وو ددې دپاره چې دخپلومالوساتنه اومرسته وکوی ابوسفيان ته چې کله داخبرورسيدی چې رسول الله ﷺ په تجارتي قافله باندی دحملی کولودپاره له مدينی راروان سوی دی نوهغه سمدستی ضمضم غفاری ته پيغام په لاس ورکړ اومکی ته يې وليږی.

(۱) کمافی شرح المواهب للزرقانی جلد ۱ /ص / ۴۱۰)

سیف لودین کتابتون

کله چې ضمضم غفاري ومکې ته ورسيدی داسې ناري سورې يې وهلې : يامعشرقريش اللّطيمة اللّطيمة اموالکم مع ابي سفيان قدعرض لها محمدفي اصحابه لااری ان تدرکوها الغوث الغوث (البدايه والنهاية جلد٣/ص/٢٥٨)ژباړه :اې دقريشوټولې. وبيړېږی وبيړېږی اوخبرسی په هغه اوښانوچې جامې اوسامانونه پربارووا وپه خپلومالوخبرسی محمدﷺ سره له خپلو ملګرو دهغو دنيولودپاره راروان سوی دی زه ګمان نه کوم چې تاسوخپل مالونه روغ رمټ پيداکې هلې مرسته هلې مرسته يعنې ژرژر دقافلې ومرستې اوکومک ته ځان ورسوی ، ابوسفيان دضمضم غفاري ترليږلو وروسته ډير له احتياط کاراخيستی اودسيندپرغاړه غاړه يې قافله روانه کړه دبدرلاره يې پريښوده لکه مخکې چې تيرسو اوکله چې قافله دمسلمانانوله لاسه ووتله نوابوسفيان يوبل پيغام وقريشوته وليږی هغه پيغام داسې وو :قال ابن اسحاق ولمارآی ابوسفيان انه قداحرزعيره ارسل الی قريش انکم انماخرجتم لتمنعوا عيرکم ورجالکم واموالکم فقدنجاها الله فارجعوا ژباړه : محمدبن اسحاق وايې کله چې ابوسفيان په دې پوه سوچې اوس يې خپله قافله دمسلمانانوله ولکې وايسته نوقريشوته يې يوبل پيغام وليږی په هغه کې ده وويل چې اې قريشوتاسوخويوائې دخپلې تجارتی قافلې اودقافلې دخلکو اومالودساتنې دپاره وتلې ياست الله تعالی هغه ټول وساتل نوتاسواوس بيرته مکې ته راسی .

دابوسفيان داپيغام قريشوته په هغه وخت کې ورسيدی چې قريش جحفه ته رسيدلي وو خلکوغوښتل چې بيرته وګرزی مګر ابوجهل قسم واخيستی چې موږبه په همدې شان اودبدبه تربدرپوری ځو اوهلته به درې ورځې تيره وو اوله جګړې پرته به نه راځومګر اخنس بن شريق دابوجهل خبره ونه منله اوبنی زهره قبيلې ته يې داسې وويل يابنی زهرة قد نجی الله لکم اموالکم وخلص لکم صاحبکم مخرمة بن نوفل وانمانفرتموا لتمنعوا ماله فاجعلوا بي جنبها ورجعوافانه لاحاجة لکم بان تخرجوا في غيرضعة لامايقول هذاقال فرجعوا فلم يشهدهازهري واحد ژباړه : اې دزهره زامنو الله عزوجل ستاسومالونه وساتل اوستاسوملګری مخرمه بن نوفل يې هم وساتی اوربښتياهم تاسوخويوائې دخپلومالودژغورلولپاره راوتلی واست هغه اوس ژغورل سوی دی نوتاسوټول بيرته وګرزی دځه چې اړتيانه وی دهغه کاردکولوګټه هم نسته . داخنس بن شريق په خبر ه ټول بنی زهره قبيله بير ته وګرزيده اودبنی زهره يوسړی هم دبدرپه جنګ کې نه دی شريک سوی .بنی هاشموخوپه لومړی سرکې جنګ تګ نه غوښتل يوخودعاتکه بن عبدالمطلب دخوب په وجه اودويم دجهيم بن الصلت خوب نورهم خلکوته زيات شکونه اوشبهې راولاړې کې او کله چې دابوسفيان پيغام راغلی چې قافله خوندی سوی ده نوييخي

سیف لودین کتابتون

دجګړې هیڅ اړتیانه وه نوځکه طالب بن ابی طالب اوځه نور بنی هاشم مکې ته بیرته ولاړو اواخنس بن شریق بنی زهره قبیله بیرته وګرزول په ټول لښکرکې دماتې نښې لیدل کیدې مګر دابوجهل دټینګاراوویرې له کبله په مات زړه بدرته روان سو.
عتبه اوشیبه خوله لومړی سره ودې تیار نه وو اوترپایه پورې یې غوښتل چې مکې ته بیرستانه سی لکه چې مخکې تفصیلي قصه تیره سوه
آیااوس دداسې ښکاره اودتأویل نه قبلونکوروایاتوله راوړلو وروسته دکوم تأویل کونکې دپاره داجواز سته چې ووایې رسول الله ﷺ اوصحابه کرام ؓ پرتجارتې قافله باندې دحملې کولودپاره نه بلکې دقریشوددفاع دپاره وتلي وو ځکه دوئ هوډ کړی ووچې پرمدینه باندې حمله وکوی نورسول الله ﷺ ددوئ ددفاع لپاره بدرته راغلي.
بلکې رسول الله ﷺ چې کله صحابه کرام ؓ له ځان سره ملګرې کړه اوله مدینې څخه روان سو نودهغه ﷺ هدف یوائې تجارتې قافله وه دابوجهل اودهغه دلښکر خیال اووهم نه وواورسره بلکې په حقیقت کې دهغه هیڅ نوم اونښان نه وو،،
لکه چې دابوجهل اوقریشوپه خیال کې هم دانه وو چې موږ به لښکرکشی کوو اوپر مدینه به حمله کوو بلکې کله چې دابوسفیان قاصدضمضم غفاری مکې ته ورسیدی اوداخبرې مکې ته ورسوی چې ستاسوتجارتې قافله په ویره کې ده مسلمانان په هغې باندې دحملې کولودپاره له مدینې څخه راوتلي دی په همدې وخت کې په مکه کې شوراوزوړجوړسوا وقریشو دابوجهل په مشرې په ډیر شوکت اودبدبه زغرې واغوستې اوپوره مسلح سو دخپل تجارتې قافلې دساتلودپاره ووتل قریش چې جحفه ته ورسیدل دابوسفیان له لورې پیغام ورته ورسیدی چې قافله خوندې ده اوقریش په پوره تیارې سره روان سو مسلمانان خودجنګ په نیت نه ووتلي نوځکه رسول الله ﷺ له صحابه ؓ سره مشوره وکړه چې قافله خوموله لاسه ووتله اوقریش راوتلي دی چې داتفصیل مخکې تیرسو له دې کبله دعلامه شبلی چې کوم خیال دی چې وایې رسول الله ﷺ له اول بیاترآخره پورې په هیڅ وخت کې هم په تجارتې قافله باندې دحملې کولونیت نه ووکړی بلکې له پیل څخه چې رسول الله ﷺ کوم سفرشروع کی هغه دقریشو دهغه فوځی لښکر دمقابلې اودفاع دپاره ووچې پر مدینه باندې دحملې کولودپاره له مکې راوتلي وو دعلامه شبلی داخبره اوخیال بې بنسټه اوبې اصله اوپوچه مفکوره دی چې په خپل باطل علم اودځان څخه جوړسوې اصولوباندې ولاړه ده شبلي ددې خیال په بیانولوسره داحادیثوټوله زخیره اودقرآن ارشادات اودسیرت روایات اوتاریخې پیښې ترخپل خیال اودروغو قربانوی خوافسوس چې دالله ﷻ دښمنانو چې دالله ﷻ نبی ﷺ اودهغه پلویانوته کوم

سیف لودین کتابتون

بدنی او ځانی تاوان رسولی دی او هغوئ یې دخپلو کوروڅخه شړلی دی او دهغوئ په مالو باندی یې ناروا قبضه کړی وه او په راتلونکي کې هم ددوئ دغه نیت دی او دیوه ګړی دپاره داسلام او دمسلمانانو دختمولو له چلو اودوکو فریبو څخه لاس نه اخلی نو که مسلمانان دوئ ته ځانی یا مالی تاوان رسولو دپاره څه کوښښ وکوی دوئ نو هغه خلاف دتهذیب او خلاف دانسانیت بولی او دکمزورو ایاتو چی څه تاویل کیدای سی هلته تاویل کوی او چیری چی تأویل نه ... سی کیدای دهغونوم هم نه اخلی ددې دپاره چی دخپلو دروغو مخنیوی وکړی دادعلم دشان او امانت څخه خلاف دی قراطیس تبدونها وتخفون کثیرا ...

بدر له غزا مخکې چی څومره کارونه سوی دی هغه ډیر دقریشو په تجارتی قافلو باندی د حملی کولو دپاره وو بیانو دبدر په غزاکې څه پیښه سوه؟

او پاته سوه داخبره چی مسلمانانو ته پرکافرانو دې کې حمله کول ناروا دی ترڅو چی کفار حمله پیل نه کړی تر هغه وخته ددوئ دفاع کیږی نو ددې ځواب دکتاب په سرکې دجهاد په بحث کې تیر سوی دی دمکی کافرانو چی مسلمانانو ته دیارلس ۱۳ کاله ځانی او مالی هر قسم تاوانونه رسولی دی او هر رنګه ظلمونه یې پرهغوئ باندی کړی دی او د راتلونکی دپاره یې نوراخطارونه هم ورکول او دمسلمانانو په ضرر رسولو کې شپه او ورځ یوه کړی وه دوئ ټولی لاری چاری پرکار اچولی نو آیا دمسلمانانو لپاره دانه دی روا چی پردوئ او ددوئ پرقافلو حمله وکوی (دشبلی خبره دعقل اونقل دواړه خلاف ده)

خلاصه :داچی ددې ټولو روایاتو څخه دروښانه ورځی په څیر داخبره ښکاره سوه چی رسول الله ﷺ او صحابه کرام ﷺ دمدینی څخه دتجارتی قافلی په نیت ووتل اودمکی قریش او ابوجهل دهغه تجارتی قافلی دساتلو دپاره راوتلی وو دمسلمانانو او کافرانو ټولو هدف همدغه تجارتی قافله وه اودواړه ډلی په همدې هدف راوتلی وی علامه یې منی او که یې نه منی دغه رنګه دبدر تر غزا مخکې چی کومی غزاګانی او سریه سوی دی هغه ډیری تعرضی وی دفاعی نه وی یعنی درسول الله ﷺ له لوری دابریدونه سوی دی.

دعصماء یهودیه وژل کیدل دهجرت دویم کال دروژی مبارکی ۲٦ !

عصماء یوه یهودی ښځه وه چی درسول الله ﷺ په شان کې به یې ناوړه شعرونه لوستل او نبی کریم ﷺ ته یې رنګارنګ تکلیفونه رسول خلک به یې درسول الله ﷺ او اسلام څخه اړول رسول الله ﷺ په بدر کې ووچی دې بیا هغه رنګه شعرونه وویل عمیربن عدی ﷺ چی کله واوریدل وینه یې په جوش کې راغله اودایې پرځان نذر کیښود چی دالله ﷻ په فضل سره که رسول الله ﷺ له بدر څخه روغ رمټ راستون سو نوزه به عصماء یهودیه وژنم ،

سیف لودین کتابتون

رسول الله ﷺ چې کله له بدرڅخه بریالی اوروغ رمټ راستون سو نوعمیر﷜ هم دخپل نذردپوره کولو لپاره دشپې ولاړی اوتوره یې راواخیسته روان سو اودهغې ښځې کورته ننوتی عمیر﷜ په سترګوړوندوو نوځکه یې عصماء نه لیده په لاس وهلویې هغه پیداکړه ددې پر شاوخواخپل بچیان پراته وودوئ یې ښه لیری کړه اوتوره یې په سینه باندی ورکیښوده اوداسی په زورسره یې وټومبله چې ترملاپوری خواته ووتله ده مبارک خونذر پوره کی اوبیرته راستون سو دسهارلمونځ یې له رسول الله ﷺ سره آداکی او ټوله پیښه یې ورته بیان کړه اوورته وې ویل چې یارسول الله ﷺ پرما خوبه په دې اړه څه ګناه یاملامتی نه وی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل نه :(لاينتطح فيها عَنزَان) په دې اړه ده دوو بزو دښکر جنګولوپه اندازه هم څه خبره نسته یعنی داسی کارنه دی چې په هغه کې څوک هیڅ اختلاف اوجګړه وکوی انسان خولاپریږده دپسه اوبزی هم په دې اړه خپل ښکر نه سره جنګوی .

دحق پیغمبرﷺ په شان کې دبی ادبه وژل ګناه نه بلکې ترلوی ثواب هم لوی ثواب اوښه عبادت دی اوپه دې خبره کې هیڅوک هم اختلاف نه سی کولای حیوان هم داحق ګڼی چې دامجرم بایدووژل سی. په مصنف حمادبن سلمة کې یادسوی دی چې دې ښځې به دخپلی ناجوړی په ورځو کې په وینه لندی جامی مسجدته راوړی اوهلته به یې غورزولی لنډه داچې رسول الله دعمیر﷜په دې غزادیر خوشاله سو اوصحابه ﷡ ته یې وفرمایل :

(اذا احببتم ان تنظروا الى رجل نصرالله ورسوله بالغيب فانظروا الى عميربن عدى) که تاسوغواړی چې داسی سړیووینی چې دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ پټه مرسته یې کړی وی نوعمیر﷜ بن عدی ته دی وګوری .

عمرفاروق﷜وفرمایل دې ړانده ته خووګوری چې څنګه په پټه دالله ﷻ دبندګی لپاره روان سو رسول الله ﷺ وفرمایل دته ړندمه وایاست ځکه دئ خولیدونکی دی یعنی ظاهراً که څه هم ړونددی مګر په زړه لیدونکی اوبینادی درمضان المبارک پنځه ورځی پاته وی چې دانښځه ووژل سوه دتفصیل دپاره زرقانی جلد۱، صفحه ۴۵۳اوالصارم المسلول على شاتم الرسول للحافظ ابن تيميه از صفحه ۹۴ تاصفحه ۱۰۳ ته رجوع وکوی اوطبقات ابن سعدجلد۲، صفحه ۱۸اوعیون الاثرجلد۲، صفحه ۲۹۳، وګوری

له جابر﷜ څخه روایت دی چې یوځل عمیر﷜ مریض سو نورسول الله ﷺ وفرمایل :

(انطلقوا بنا الى البصير الذى فى بنى واقف نعوده)

موږ دهغه لیدونکی وخواته ځو چې په بنی واقف کې اوسیږی دهغه پوښتنه کوو،

حافظ عراقی فرمایې : فبعثه عميرا الخطميا .... بقتل عصما هجّت النبيآ ﷺ

سیف لودین کتابتون

دقرقرة الكُدر غزا

دبدردغزاله راستنیدو وروسته دکوچنی اخترپه میاشت کې رسول الله ﷺ ته دسلیم اوغطفان دراټولیدو خبرورسیدی رسول الله ﷺ پردوئ دبرید لپاره له دوه سوه تنو سره یو ځای له مدینې روان سو کله چې اسلام فوځ ګُدر چینې ته ورسیدی رسول الله ﷺ خبرسو چې داسلام دښمنان مخکې لاتښتیدلي دي دوئ مخکې لادمسلمانانوپه راتګ خبر سو ی وو نبی کریم ﷺ هلته درې ورځې پاته سو اوپرته له جنګ بیرته مدینې ته راستون سو .

له یوشمیرروایاتومعلومیږی چې له دې ځایه رسول الله ﷺ یوه سریه دهغوئ دلاندی کولودپاره ولیږله چې هغوئ په غنیمت کې پنځه سوه ۵۰۰اوښان ونیول اوبیرته راغلو اودکوچنی اختر پاته ورځې اوذی القعدی میاشت رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې تیری کړی اوپه همدې وخت کې یې دبدرله بندیانو څخه فدیه واخیسته اوچاچې فدیه ورکړه هغه یې ازاد کړه .

دابو عفک یهودی وژل کیدل

دکوچنی اخترپه میاشت کې رسول الله ﷺ سالم بن عمیر رضی الله عنه (۱)دابوعفک یهودی دوژلو دپاره ولیږی ابوعفک مذهباً سپین ږیری یهودی وو دیوسل شلو کالو ۱۲۰ وواو درسول الله ﷺ په مبارک شان کې ناوړه شعرونه ویل اوخلک یې درسول الله ﷺ په مقابل کې راپورته کول کله چې دده ضررترخپل حدواوښتی نونبی کریم ﷺ وفرمایل (من لی بهذا الخبیث) څوک دی چې زمادپاره یعنی یوائې دعزت اواحترام دپاره ددې خبیث ژوند پای ته ورسوی . سالم بن عمیر رضی الله عنه وویل یارسول الله ﷺ مامخکې لاداژمنه کړی وه چې ابوعفک به زه وژنم یابه په خپله مړکیږم ددې خبری په کولوسره سالم رضی الله عنه توره راواخیسته روان سو ډیره ګرمی وه کله چې دابوعفک ځای ته ورسیدی ابوعفک دمرګ په خوب ویده وو ده هم سمدستی دتوری وار پروکړاوتوره یې پرسینه ورکیښوده اودومره زور یې پروکړچې توره لاندی تربستره پوری ورسیدله دالله ﷻ دښمن ابوعفک یوه لویه چیغه وکړه خلکورامنډی کړی مګر دهغه کارسوی وو (۲) حافظ عراقی رحمة الله علیه فرمایې : فبعثه سالما الی عفک .... قتله آذی النبی ﷺ وافک) ای کذب وافتری علی النبی ﷺ

---

(۱)سالم بن عمیر رضی الله عنه دبدرله غازیانو څخه هم دی اودعقبه په بیعت کې یې هم برخه لرله دالله ﷻ له ویری به یې دیر ژړل دژړاوفریادپه وخت کې پرده یوخاص کیفیت راتلی ، اصابه ترجمه سالم بن عمیر رضی الله عنه دمعاویه رضی الله عنه دخلافت په وخت کې وفات سوی دی (چون خدا خواهد که یاری کند .... میل ما راجانب زاری کند)

(۲) الطبقات الکبری لابن سعد جلد۲ /ص/ ۱۹ ، الصارم المسلول لابن تیمیة رحمة الله علیه صفحه ۱۰۳ ، عیون الاثرصفحه ۳۱۳، ۳۱۴ ، زرقانی جلد ۱ /ص/۴۵۵)

سيف لودين کتابتون

دبني قنقاع غزا دهجرت دويم کال دکوچني اختر دمياشتي ۱۵ دخالي ورځ

بني قنقاع دعبدالله بن سلام رضی الله عنه دوروری خلک وو ډير ډلاوره اوغښتلي وودوئ ټول زرګران وه دکوچني اختر په پنځلسم ياشپاړسم دشنبي په ورځ رسول الله ﷺ ددوئ بازارته ورغلي اوټول يې راوغوښتل نصيحت يې ورته وکی داسي يې ورته وفرمايل :

(يامعشر يهود احذروا من الله مثل مانزل بقريش من النقمة واسلموا فانكم قدعرفتم انى نبى مرسل تجدون ذلك فى كتابكم وعهدالله اليكم)

اې يهوديانوله الله جل جلاله څخه وبيرېږی څنګه چي پرقريشوباندی په بدرکې عذاب نازل سو هسی نه چي پرتاسوهم هغه رنګه عذاب نازل سی اسلام راوړی ځکه تاسوپه دې ښه خبرياست چي زه ربښتيني نبی ﷺ اودالله جل جلاله رسول ﷺ يم تاسوداپه خپل کتاب کې ليدلی دی اوالله جل جلاله له تاسو څخه داوعده اوژمنه اخيستی ده .

يهودو دنبی کريم ددې خبری په اوريدو سره وايشيدل اوداسي ځواب يې ورکړچی ته هيڅ وخت په دې مه خطاوزه چي يوناخبره اوناپوه قوم يعنی قريشوته دې ماته ورکړه قسم په الله جل جلاله که ستازموږ سره مقابله سوه نوښه به درته معلوم سی چي موږ څنګه خلک يو ،، په دې اړه داآيت نازل سو :قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ فِي فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأُخْرَى كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُمْ مِثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ وَاللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهِ مَنْ يَشَاءُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ (١٣)سورة آل عمران

په تحقيق سره ستاسودپاره نښه ده په هغودووډلوکې چي ديوبل سره وجنګيدل يوه ډله خو دالله جل جلاله په لاره کې جنګ کونکی وه اوبله ډله دکافرانووه چي مسلمانانو خپله دوچنده وليدله په خپلو ستر ګوسره اودالله جل جلاله چي چاته خوښه سی په خپل مرسته سره قوت ورکوی ربښتياهم په دې کې دهوښيارانودپاره عبرت سته .

رسول الله ﷺ چي کله مدينی منوری ته هجرت وکی په هغه وخت کې يې له بنی قنقاع اوبنی قريضه اوبنی نضير سره يې داپريکړه وکوله چي نه به موږ له تاسوسره جنګ کوو اونه به ستاسوزموږ له دښمنانوسره مرسته کوی مګر ترټولومخکې بنی قنقاع خپله ژمنه ماته کړه اوپه ډيره سپين ستر ګی يې رسول الله ﷺ ته ځواب ورکی اوجګړی ته تيارسو ، دوئ دمدينی په شاوخواکې اوسيدل رسول الله ﷺ په مدينه کې دځان پرځای ابولبابه بن عبدالمنذر انصاری رضی الله عنه خليفه وټاکی اوبنی قنقاع ته په خپله روان سو بنی قنقاع سمدستی کلاته ننوتل اودروازی يې بندی کړی، رسو ل الله ﷺ دکوچني اخترله پنځلسمی ورځی بياذی القعدی ترلومړی ورځی پوری هغوئ ايساری کړی وو په پای کې دوئ اړسو چي له کلاروااوزی دکلابندی په شپاړسم ورځ راکښته سو رسول الله ﷺ دهغوئ دکاريزودبندولوحکم وکړ ، دمنافقين مشر عبدالله بن ابی بن سلول ددوئ په اړه

سیف لودین کتابتون

ډيرى زارى وکړى ځکه له مرګ خلاص سو مګر له مال او توکو سره يې دجلا وطنى حکم وسو نبى کريم ﷺ دغنيمت مالونه راواخيستل اومدينى ته راستون سو يو خمس يې په خپله واخيستى او څلور خمسه يې پر مجاهدينو وويشل تربدر وروسته دالومړى خمس وو چى رسول الله ﷺ په خپله واخيستى .

عباده بن صامت ﷛ فرمايې : چى له بنى قنقاع سره مادوستى اړيکى درلودى کله چى ماددوئ شرارت اودژمنى ماتيدل وليدل نوماهم له دوئ سره اړيکى وشلولى اوله دوئ مى د بيزارى اعلان داسى وکړ :

(يارسول الله ﷺ اتبرأ الى الله والى رسوله واتولى الله ورسوله والمؤمنين وابرامن حلف الكفار وولايتهم)

يارسول الله ﷺ زه ستاله دښمنانوڅخه بيزاره يم اوالله ﷻ اودهغه رسول ﷺ ته راغلم اوالله ﷻ اودهغه رسول ﷺ اومؤمنان خپل دوستان اوحليفان ګڼم اودکافرانو له دوستي اوژمنى څخه بيل يم .

ف :له دې حديث څخه ښکاره څرګنده سوه چى لکه څنګه چى دايمان لپاره دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ اودمؤمنانو سره مينه ضرورى ده دغه رنګه دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ له دښمنانو سره دښمنى نفرت اوبيزارى اوبرائت هم ضرورى دى (١) (تولابى تبرا نيست ممکن) په دې ځاى کې صادق دى که موتفصيل په کاروى نودعارف ربانى شيخ مجدد الف ثانى قدس الله سره مکتوبات وګورى چى دايمان دپاره يوازې تصديق بس نه دى ترڅو چى دالله ﷻ له دښمنانو څخه بيل اوبيزاره نه سى اوهمدغه دامام محمد رحمة الله عليه څخه نقل سوى دى چى له کفرا وکافرانو څخه بيزارى دايمان لازمى شرط دى لکه چى دعلم کلام په کتابو کې به تاسو لوستلى وى .

((دسويق غزا دهجرت دويم کال دذى الحجه پنځمه ٥))

له بدر څخه چى کله مشرکينو ماته خوړلى لښکر نااميداوډير تاوانى مکى ته ورسيدى نو ابوسفيان بن حرب قسم وکوى چى ترڅو پورى په مدينه باندى حمله ونه کړم ترهغه وخت له جنابت غسل نه کوم دخپل قسم پوره کولو دپاره دذى الحجه په لومړى شپو ورځو کې دوه سوه ٢٠٠ سپاره له ځان سره ملګرى کړه اومدينى ته روان سو عُرَيض ته چى ورسيدل کوم چى دمدينى په درې ميله فاصله کى دى دخورماو يو باغ ته ننوتل اوهلته دوه بزګران دکروندى په کاربوخت وو يوانصارى اوبل يې مزدور وو دوئ دووسو ٢٠٠ کسانو دغه دوه ٢ تنه ووژل او څه درختى يې وسوځلى دوئ وويل چى زموږ قسم پوره سو نورنو تُوپر موټانو مخ پر مکه وتښتيدل .

(١) البدايه والنهاية جلد ٤ /ص /٣)

سیف لودین کتابتون

29
29

رسول الله ﷺ چې کله خبرسو سمدستي يې دوه سوه مهاجرين او انصار ﷺ له ځان سره ملګري کړه او د ابوسفيان په لټون پسې ووتل دوئ تر ډيره ځايه ولاړل مګر څه په لاس ورنه غلو ځکه ذوئ مخکې لاتښتيدلي و داپيښه د ذی الحجه په پنځمه ديک شنبی په ورځ وسوه د تللو په وخت کې د بار د سپکولو په خاطر يې کومی دستوانو ګونی چې له ځان راوړی وی هغه يې پرلاري دانه دانه غورزولی وی هغه ټولی د مسلمانانو لاس ته ورغلی په دې وجه و دې غزا ته غزوة السويق وايې يعني دستوانو غزا (١)

دلوی اختر لمونځ

د ذی الحجة پرنهمه ٩ رسول الله ﷺ له غزوة السويق څخه بيرته راستون سو او په ١٠ د ذی الحجة الحرام يې دوه رکعته دلوی اختر لمونځ وکوی او دوه پسونه يې د قرباني لپاره حلال کړه او مسلمانانو ته يې د قرباني کولو حکم وکوی د مسلمانانو دا لومړنی لوی اخترو (٢)

د سيدة النساء فاطمة الزهراء (٣) رضی الله تعالی عنها نکاح د هجرت دويم کال

په همدې کال رسول الله ﷺ د خپلی وړوکی لور فاطمة الزهراء ﷺ واده له علی کرم الله وجهه سره وکړ لومړی ابوبکر صديق ﷺ او بيا عمرفاروق ﷺ د دې د نيک بختی د حاصلولو کوشش وکی مګر رسول الله ﷺ هيڅ ونه ويل په يوروايت کی راغلی دی چې رسول الله ﷺ وويل چې زه د الله ﷻ د حکم منتظريم وروسته ابوبکرصديق ﷺ او عمرفاروق ﷺ علی ﷺ ته مشوره ورکړه چې ته د نبی کريم ﷺ دلوردپاره د نکاح پيغام وليږه له دې مشوری وروسته علی ﷺ د رسول الله ﷺ په خذمت کې حاضر سو او د نکاح غوښتنه يې وکړه نبی کريم ﷺ د وحی د نازليدو موافق د علی ﷺ پيغام ومنی (۴)

علی ﷺ فرمايې چې ما کله د دې پيغام د ورکولو اراده وکړه نو په زړه کې می دا راتيرسو چې له تاسره خو هيڅ هم نسته او سره له دی دواده د پاره خو څه ناڅه خامخا په کار کيږی مګر د رسول الله ﷺ احسان او ښه اخلاقو او د هغه ډيره نرمی او مهربانی ماته همت راکی او د هغه مبارک ﷺ په درباکې می داغوښتنه وکړه رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسره د مهر دپاره څه شئ سته ماوويل نه نبی کريم ﷺ وفرمايل ښه هغه زغره چې تاته د بدر په جنګ کې رسيدلی وه هغه چيری ده ماوويل هغه له ماسره ده رسول الله ﷺ وفرمايل هغه زغره فاطمی ته په ولور کې ورکړه (رواه احمد وابن سعد وابن اسحاق ، اصابه ترجمه فاطمة الزهراء ﷺ)

(١) زرقانی جلد ١ /ص/ ۴۵۸)
(٢) زرقانی جلد ١ /ص/ ۴۶۰)
(٣) د فاطمة الزهراء ﷺ نکاح د هجرت په دويم کال وسوه په دې کې اختلاف نسته مګر په مياشت کې اختلاف دی چې کومه مياشت وه ذی الحجه وه يا محرم که صفر والله اعلم زرقانی)
(۴) په معجم طبرانی کې راغلی دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل الله ﷻ ماته حکم کړی دی چې د فاطمی ﷺ نکاح له علی ﷺ سره وکړم د دې حديث ټول راويان ثقه دی (زرقانی جلد ٢ /ص/ ۵)

سیف لودین کتابتون

علی ﷜ هغه زغره دعثمان په لاس په ۴۸۰ درهم خرڅه کړه او هغه ټول دراهم یې ونبی کریم ﷺ ته راوړل رسول الله ﷺ وفرمایل په دې دواده لپاره خوشبویه جامې برابرې کړه (۱) رسول الله ﷺ خپلې مبارکې لور فاطمة ﷝ ته په واده کې دغه شیان ورړه: یوه بستره،، اویوه دڅرمنې نالې چې دپنبه پرځای ددرختي له پوستوکو ډکه سوې وه او دوې میچنې اویوژرې اودوه دخاورو منګې (رواه احمد) کذافی الترغیب والترهیب للمنذری (۲) باب الترغیب فی الاذکار بعد المکتوب باب وکذافی الاصابه ترجمه فاطمة الزهراء ﷝)

کله چې دواده وخت راورسیدی نورسول الله ﷺ علی ﷜ ته وفرمایل چې دځان لپاره یوسرای پیدا که علی ﷜ په کرایه باندې یوسرای ونیوی اوپه هغه کې یې واده وکوی فاطمه ﷝ مشوره ورکړه چې دحارثه بن النعمان ځای وغواړه علی ﷜ وفرمایل چې زه شرمیږم چې له حارثه بن النعمان ﷜ څخه خو هغه له بلې لارې خبرسو حارثه درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ قسم په الله ﷻ ته چې څه واخلې دابه زما لپاره ډیرغوره وي ترهغه چې پاته سي رسول الله ﷺ وفرمایل (صدقت بارک الله فیک (۳) تاربښتیا وویل الله ﷻ دې پرتا خپل برکتونه نازل کې حارثه ﷜ بل ځای ته نقل سو اوعلی ﷜ اوفاطمة الزهراء ﷝ دحارثه ﷜ وځای ته راغلو (اخرجه ابن سعد اصابه ترجمه فاطمة الزهراء ﷝)

دغطفان غزا دهجرت دریم کال ودې ته دانمار اوذې امر غزاهم وایي

دسویق له غزا وروسته دذی الحجه پاته ورځې رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې پاته سو په دې وخت کې رسول الله ﷺ ته داخبرورسیدی چې بنی ثعلبه اوبنی محارب چې دوئ دواړه دغطفان قبیلې ښاخونه دي په نجد کې سره یوځای سوي دي اوددوئ نیت لرې چې دمدینې پراطرافو باندې حمله وکوي اودعثور غطفاني ددوئ مشردی دهجرت دریم کال دمحرم په میاشت کې رسول الله ﷺ په غطفان باندې دحملې کولو په نیت دنجد ولورې ته روان سو اوپه مدینه کې یې عثمان بن عفان ﷜ خلیفه وټاکی اوڅلورسوه پنځوس ۴۵۰ صحابه کرام ﷡ له رسول الله ﷺ ملګري وو غطفان درسول الله ﷺ په راتګ خبرسو نوسمد ستې غروته وختل یواځې یوسړی دبنی ثعلبه قبیلې څخه بندی سو صحابه ﷡ هغه سړی درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرکی رسول الله ﷺ هغه ته داسلام بلنه ورکه هغه هم سمدستي اسلام ومنی رسول الله ﷺ دصفرې ټوله میاشت یې هلته تیره کړه مګر هیڅوک دمقابلې لپاره نه راغلو پرته له جنګ دلومړۍ خورپه میاشت کې مدینې ته بیرته راستانه سول (۴)

---

(۱) زرقانی جلد۲ /ص/ ۳) ——— (۲) زرقانی جلد۲ /ص/ ۲۶۰) ——— (۳) یعنی الله ﷻ دې ستاځان دغیبي برکاتو او اسماني خیراتو خزانه اوزیرمه وګرزوي دامعنی دفي ظرفیه څخه معلومیږي، فافهم واستقم)

——— (۴) البدایه والنهایه جلد۴ /ص/۲)

سیف لودین کتابتون

په دې غزاکې یوه عجیبه پیښه منځ ته راغله هغه دا ی کله چې دوئ پر لاری ووباران پیل سو دصحابه کرام ﷺ جامې لمدې سوې رسول الله ﷺ خپلې جامې دوچلو دپاره پریوه درخته واچولې اوترهغه ونه لاندې ویده سو کوچیانو رسول الله ﷺ ته دغره له سره کتل دوئ وخپل مشر دعثورته چې په دوئ کې ډیر دلاوره سړی وو وویل چې محمد ﷺ ترهغه ونه لاندې بیده دی ته ورسه هغه قتل کړه دعثور ډیره تیره توره را واخیسته له پوښه یې وکښله پټ پټ راغلی درسو الله ﷺ وسرته ودریدی اووې ویل اې محمد ﷺ دا راته ووایه چې نن به تاله ماڅخه څوک خلاصوی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل الله تعالی به مې د رڅخه خلاصوی نبی کریم ﷺ لا دا خبره نه وه پوره کړې جبرئیل آمین علیه السلام دعثور په سینه کې داسې سوک ووهی چې ددعثور له لاسه توره لاندې ولویدله رسول الله ﷺ هغه ورپورته کړه او دعثورته یې وویل چې ښه اوس نوته ووایه چې تابه له ماڅخه څوک خلاصوی دعثور وویل هیڅوک هم نه ، سمدستی یې اسلام ومنی اودااقراریې وکړ (اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ) او دا ژمنه یې وکړه چې له نن وروسته به ستاد مقابلې دپاره فوځ نه راټولوم رسول الله ﷺ دعثورته دهغه توره بیرته ورکړه دعثورلږ وړاندې ولاړی بیرته راوګرزیدی او داسی یې وویل قسم په الله ﷻ ته ترمادډې توری ډیر حق داره یې دعثورولاړی خپل قوم ورته وویل ته چې په کوم کارپسې تللی وی هغه څنګه سو له دې پوښتنې وروسته دعثورټوله پیښه ورته بیان که اووې ویل داسې له نامعلومې خواڅخه زه په سینه کې په سوک ووهل سوم چې ددې سوک له امله دشاپرتخته ولویدم په دې سره زه پوه سوم اویقین مې راغلی چې داسوک وهونکی خامخافرشته دی نوځکه مااسلام قبول کی او درسول الله ﷺ د رسالت شاهدی مې ورکړه او خپل قوم ته یې هم داسلام بلنه ورکړه په دې اړه دا آیت نازل سو :يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَنْ يَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ (۱۱ سورة المائدة) اې مؤمنانو دالله ﷻ هغه نعمت یادکی چې کله یو قوم دااراده وکړه چې تاسوته لاسونه اوږده کی نو الله ﷻ دهغوئ لاسوه بند کړل ،،

امام بیهقی فرمایې چې داسې بله پیښه هم وسوه دذات الرقاع په غزاکې رانقل سوې ده ، واقدی داپیښه دغطفان په غزاکې بیان کړې ده که داصحی وی نودغه دواړه مختلفې پیښې دی یوه دغطفان په غزاکې اوبله دذات الرقاع په غزاکې سوې لکه چې په راتلونکی به دابیان راسی (۱) علامه زرقانی فرمایې چې دمحقیقنودارایه ده چې دغه دوې پیښې سره بیلې اوجلادی (۲)

(۱) الخصائص الکبری جلد ۱ ص / ۲۱۰ ، البدایه والنهایة جلد ۴ ص / ۲)
(۲) زرقانی جلد ۲ ص / ۱۶)

سيف لودين كتابتون

دبُحران غزا دهجرت دریم کال ددویمي خورمیاشت !

دغطفان دغزاله راستیندورووسته دربیع الاول میاشت رسول الله ﷺ په مدینه کې تیره کړه دربیع الثانی په میاشت کې رسول الله ﷺ ته داخبرورسیدی چی دبحران په نامه ځای کې چی دحجاز مرکزدی بنی سلیم (۱) داسلام دمقابلې لپاره راټول سوی دی ، رسول الله ﷺ ددې خبرله اوریدوسره سمدستی ددرې سوه ۳۰۰ صحابه سره یوځای بحران ته روان سو اوپه مدینه کې یې عبدالله بن ام مکتوم ﷺ خلیفه وټاکی ، هغه خلک چی درسول الله ﷺ په راتگ خبرسو ټول سره خواره واره سو اوله جنگ پرته رسول الله ﷺ مدینی ته راستون سو دسیرت دعلماء په دې کښې اختلاف دی چی په بحران کې رسول الله ﷺ څومره موده پاته سو یوشمیروایې لس ۱۰ ورځی پاته سو اونوریې وایې چی ددریمی خورتر ۱۶ پاته سو (۲)

دیهودی کعب بن اشرف وژل کیدل دهجرت دریم ۳ کال دلومړی خور ۱۴ شپه (۳)

مدینی منوری ته چی کله دبدردفتح خبر ورسیدی نویهودیان عموماً ټول اوکعب بن اشرف ته ډیره بده صدمه ورسیدله ده وویل چی که داخبررښتیاوی چی دمکی لوی لوی مشران اوشریف خلک ووژل سو نوبیادځمکی نس دځمکی ترمخ ډیر ښه دی یعنی مرگ ترژوندبیاښه دی ددې لپاره چی په سترگوداذلت اوسپکاوی نه ووینو مگر کله چی ددې خبررښتینوالی ورته معلوم سونودبدردوژل سویو دتعزیت اوتسلی لپاره مکی ته روان سو اوکوم خلک چی په بدرکې وژل سوی وودهغوئ لپاره یې مرثیه ولیکله کله چی به ده هغه ویله ورسره ژړل به یې هم اونوربه یې هم ژړول اودرسول الله ﷺ په مقابله کې یې خلک دجنگ لپاره راپاڅول یوه ورځ یې قریش ټول حرم ته راوستل اودجنگ لپاره یې راپورته کړه قریشودبیت الله شریف پرده مچ کړه اودمسلمانانو سره دجنگ کولو قسم یې وخوړ، کعب یوڅو ورځي وروسته مدینی ته بیرته راغلی اودمسلمانانودښځوپه اړه یې عاشقانه شعرونه ویل شروع کړه (۴)

له کعب بن مالک ﷺ څخه روایت دی چی کعب بن اشرف ډیر لوی شاعروو درسول الله ﷺ په مبارک شان کې به یې ناوړه اشعارویل اودمکی قریش به یې درسول الله ﷺ دمقابلی دپاره همیشه راپاڅول اومسلمانانوته یې رنگارنگ تکلیفونه رسول ، رسول الله ﷺ به مسلمانانوته دزغم صبر اوبرداشت حکم کوی مگر کله چی ده خپل شرارت نه پریښودی نورسول الله ﷺ دکعب دوژلو حکم وکړ (رواه ابوداؤد والترمذی فتح الباری باب قتل کعب بن الاشرف

---

(۱) دبحران وغزاته په دې وجه دبنی سلیم غزاهم وایې (زرقانی)
(۲) طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص /۴۴)
(۳) زرقانی جلد ۲ /ص /۸ ، فتح الباری جلد ۷ /ص /۲۵۹)
(۴) زرقانی جلد ۲ /ص /۹، ابن هشام جلد ۲ /ص /۷۱)

سیف لودین کتابتون

په یوروایت کې راځي چې یوځل کعب بن اشرف رسول الله ﷺ دمیلمستیاپه بهانه راوغوښتی اوغوښتنه یهودیې پردې ګمارلی ووچې کله رسول الله ﷺ راشي نوقتل یې کې رسول الله ﷺ راغلی کښیناستی جبرئیل علیه السلام سمدستی راغلی رسول الله ﷺ یې ددوئ په نیت خبرکی رسول الله ﷺ سمدستی له هغه ځایه دجبرئیل آمین علیه السلام دوزرو په سایه کې دباندی ووتی اوله رسیدووروسته یې دکعب دوژلوحکم وکړ (۱)

په صحیح بخاری کې له جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل په تاسوکې دکعب بن اشرف دوژلوډپاره څوک تیاردی کعب الله جل جلاله اورسول الله ﷺ ته ډیرتکلیفونه رسولی دی(۲) ددې خبری په اوریدوسره محمدبن مسلمة رضی الله عنه ولاړسو اوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ آیاته دهغه وژل کیدل غواړی ، رسول الله ﷺ وفرمایل ،هو، محمدبن مسلمة رضی الله عنه وویل یارسول الله ﷺ بیانوماته دڅه ویلواجازه راکړه (یعنی داسی نامعلوم اوتعریضی کلمات اوذومعنی الفاظ) ویلای سم چې دهغه په اوریدوسره هغه په ښکاره خوشاله سی رسول الله ﷺ وفرمایل هواجازه دی .. (۳) محمدبن مسلمة رضی الله عنه روان سوورغلی له کعب بن خبیث سره یې ولیدل په خبروخبروکې ده ورته وویل چې داسړی (یعنی رسول الله ﷺ) خوداسی کوی اوداسی کوی موږتول فقیران اوغریبان یو هیڅ هم نه لرو اوموږ له ډیری مجبوری څخه دده خبره منلی ده اوس موله ډیری مجبوری تاته راغلوچې ته څه غله غنم په قرض راکړی ؟ کعب ورته وویل ښه ده مګر تاسوبه له ماسره په ګرو کی یوشئ ایږدی دوئ ورته وویل ته څه غواړی کعب وویل ښځي په ګرو کې راته پریږدی دوئ ورته وویل څنګه خپلی ښځي په ګرو (۴) پریږدو داخودغیرت خلاف خبره ده بل داچې ته ډیرښائسته ځوان یې (۵) کعب وویل تاسوخپل زامن له ماسره په ګرو کې کیږدی دوئ ورته وویل چې داخوبه زموږدزامنولپاره دټول عمر شرم اوپیغوروی زموږزامنوته به ترهره وخت خلک پیغورورکوی چې تاسوهغه خلک یاست

---

(۱) فتح الباری جلد ۷ /ص /۲۵۹)

(۲) په بل روایت کې راغلی دی چې ربښتیاهم دې سړی موږته په خپلوشعروتکلیف رسولی دی اودمکی مشرکینوته یې زموږپه مقابله کې قوت رسولی دی (رواه الحاکم فی الاکلیل فتح الباری جلد ۷ /ص /۲۵۹ ، زرقانی جلد ۲ /ص /۱۰)

(۳) دابن عبدالبرپه روایت کې راغلی دی چې محمدبن مسلمة رضی الله عنه درسول الله ﷺ له وعدی ځوورځی وروسته فکرمندووچې څنګه وکوی خوآخریې دکعب بن اشرف له رضاعی ورور ابونائله سلکان بن سلامة بن وقش رضی الله عنه اوعبادبن بشر رضی الله عنه اوحارث بن اوس رضی الله عنه اوابوعبس بن جبر رضی الله عنه سره ولیدل اومشوره یې وکړه ټولوپه اتفاق سره داوویل (کلنانقتله) موږټول به یې وژنونوځکه دوئ ټول پریوه ځای درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ هلته چې موږځونوځه ناڅه خبری به کیږی دهغواجازه راکړه نبی کریم ﷺ وفرمایل څه چې تاسومناسب ګڼی هغه وایاست زماله خواتاسوته اجازه دی) ارشادالساری)

(۴) دښځوله غوښتنی څخه دکعب باطنی خباثت معلومیږی)

(۵) دځوانتکی دابن اسحاق له روایت راخیستل سوی دی)

سیف لودین کتابتون

چی ددوه ۲ سیره یادرې سیره غنمو په بدل کې ګروسوی واست زموږ خو داخو بنه ده چی موږ خپله سلاح له تاسره په ګرو کیږدو دعکرمه ؓ په یو مرسل روایت کې راغلی دی چی دوئ ورته وویل چی ته په دې خبرې چی موږ دسلاح څومره اړیو مګر له دې سره سره داکولای سو چی سلاح له تاسره کیږدو مګر دانسی کیدای چی ښځي اوزامن په ګرو درته پریږدو کعب هم ورسره ومنله اوداژمنه یې وکړه چی دشپې راسی غنم یوسی اوپه ضمانت کې سلاح راوړی ، دوئ هم دژمنی برابردشپې ورغلو وکعب ته یې ږغ وکړ کعب دخپلی کلاڅخه دراکښته کیدو اراده وکړه ښځي ورته وویل په دې نیمه شپه چیری ځي کعب وویل محمدبن مسلمة ؓ اوزمارضاعی ورورابو نائله دی پردي څوک نه دی ته مه خفه کیږه ښځی ورته وویل ماته خودده له اوازه دوینوبوی راځي کعب وویل چی شریف انسان که دشپې په وخت کې دنیزی وهلودپاره وبلل سی هم باید ورسی په دې وخت کې محمدبن مسلمه ؓ خپل ملګری پوه کړل چی کله چی کعب بن اشرف راسی نوزه به دهغه ویښتان بوی کم کله چی تاسوزه ولیدم چی مادهغه ویښتان ښه ټینګ ونیول نوسمدستی له هغه څخه سروالوزوی کله چی کَعب راکښته سو نوله سره ترپښوپوری خوشبویه وو محمدبن مسلمه ؓ ورته وویل سبحان الله داسی خوشبویی خوماتراوسه نه دی لیدلی کعب وویل له ماسره دعربو ترټولو ډیره ښائسته اوترټولو ډیره خوشبویه ښځه ده محمدبن مسلمه ؓ وویل آیاته ماته دخپل سردبوي کولواجازه راکوی کعب وویل ولی نه اجازه محمدبن مسلمه ؓ ورمخکې سو په خپله یې هم دکعب سربوی کی اوخپلوملګرو ته یې هم وویل چی تاسووګوری دکعب دسرڅومره ښه بوی ځي لږ وروسته محمدبن مسلمه ؓ ورته وویل آیاته دویم ځل دخپل سردبوي کولواجازه راکوی کعب وویل په ډیره مینه محمدبن مسلمه ؓ ولاړسو اودکعب دسرپه بوئ کولومشغول سو کله چی یې دسر ویښتان ښه ټینګ ونیول نوملګروته یې اشاره وکړه دوئ ټولوسمدستی دهغه سرغوڅ کړ اوپه همدې وخت کې دکعب بن اشرف ژوندپای ته ورسیدی (۱)

دوئ ټول دشپې په آخرکې درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو رسول الله ﷺ چی کله ولیدل وې فرمایل (اَفْلَحَتِ الوجوه) دې مخونوکامیابی پیداکړه دوئ په ځواب کې ورته وویل (ووجهک یارسول الله) اوترټولومبارک ستامخ دی اې دالله رسول ﷺ .وروسته دوئ دکعب بن اشرف سَر درسول الله ومخ ته وغورزوی رسول الله ﷺ الحمدلله وویل اودالله عزوجل شکریې اداء کی (۲)

(۱) فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۲۶۰)
(۲) فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۲۶۲)

سیف لودین کتابتون

کله چی یهود خبرسو نوتښول وبیریدل سهاردیهودو یوه ډله دنبی کریم ﷺ په خذمت کښ حاضرسوااووښ ویل چی زمونږمشر کعب بن اشرف داسی وژل سوی دی ؟ رسو ل الله ﷺ وفرمایل : چی کعب خومسلمانانوته رنګارنګ تکلیفونه رسول اوخلک یښ زمونږسره دجګړی دپاره راپاڅول اوداسی کارونه یښ کول یهود هک پک حیران پاته سو اوهیڅ ځواب یښ نه درلودی اونه یښ انکارکولای سوای دکعب تروژل کیدو وروسته رسول الله ﷺ له یهودوسره یوپریکړه لیک لاسلیک کړ په هغه کښ داسی ولیکل چی په راتلونکی کښ به له یهودو څخه هیڅوک داسی حرکت نه کوی (طبقات ابن سعد)

دکعب بن اشرف دوژل کیدو لاملونه اوسببونه !

دحدیثو له روایاتوڅخه دکعب بن اشرف دوژلو چی کوم اسباب اولاملونه معلومیږی هغه په لاندی ډول دی :

(۱) دنبی کریم ﷺ په شان اقدس کښ بده ژبه کارول اوبدرد اوښکنځل اوبی ادبه خبری له ژبی څخه ایستل (۲) دویم درسول الله ﷺ په شان کښ ناوړه شعرونه ویل (۳) په غزلواوعاشقانه شعروکښ دمسلمانانوښځودښائست اوځوانی یادول (۴) خطاایستل دوکه چل ول ژمنه ماتول (۵) خلک درسول الله ﷺ دمقابلی دپاره راپورته کول اوهغوئ جګړی ته تیارول (۶) ددعوت په بهانه درسول الله ﷺ دشهادت دسیسه جوړول (۷) په دین اسلام باندی بدرد ویل داټول دکعب دوژلولاملونه او اسباب وو ،،

مګر ترټولو قوی سبب درسول الله ﷺ په شان اقدس کښ بدرد اوښکنځل اودهغه مبارک ﷺ په شان کښ بد شعرونه ویل همداترټولو لوی لامل دی ، شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمة الله علیه په خپل کتاب الصارم المسلول علی شاتم الرسول کښ له صفحه ۷۰ بیا تر۹۱ پر دښ باندی مفصلی خبری کړی دی .

له زهری څخه روایت دی چی همدا آیت

وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيرًا (۱۸٦)سورة آل عمران)

ژباړه : هرومرو به تاسو داهل کتاب اومشرکینو څخه ډیربدرد اوبدزبانی واوری .

زهری وایښ چی داآیت دکعب بن اشرف په اړه نازل سوی دی (عیون الاثرجلد۱، صفحه ۳۰)

عبادبن بشر رضی الله عنه په دښ اړه داسی شعرونه ویلی دی :

صرخت به فلم یعرض لصوتی .... واوفی طالحا من رأس جدر

فعدت له فقال من المنادی ....فقلت اخوک عبَّادُ بن بِشرٍ

وهذا در عنَا رَهنًا فخذها .... لِشَهرٍ اِن وَفَی او نصفَ شهرٍ

فَاَقْبَل نحونا یهوی سریعا................. وَقَال لَنَا لَقَدْ جئتم لِاَمْرٍ

سیف لودین کتابتون

فَعَانَقَهُ ابن مسلمة المردی .... بِهِ الكُفَّارُ كاللَّيث الهزبُر
وشَدَّ بِسيفهِ صَلَتًا عليه .... فَقَرَّه ابو عبس بن جَبَر
وكان الله سادسنا فَأُبْنَا .... بِأَنْعُمِ نِعْمَةٍ واَعَزِّ نَصْرٍ
وجاء براُسه نَفَر كِرم (۱) .... هم ناهيک مِنْ صِدْقٍ وبرٍّ

حافظ عراق په الفية السيرة كي فرمايي

فَبَعَثُه محمدبن مسلمة :::::::::::::::::::::: فى رُفقَةٍ لِقَتْلِ كَعْبَ المَلاَ مَهْ
جاؤا براُسه فَاَقْدَ موهُ :::::::::::::::::::::: قَالَ لَهُم افلحت الوُجوُهُ

دحویصه بن مسعود رضی الله تعالی عنه داسلام رواړولو قصه

دکعب بن اشرف تروژل کیدو وروسته رسول الله ﷺ صحابه کرام ﷺ ته داحکم وکی چی داسی خبیثان یهود که موهرچیری پیدا کول هم هلته یې وژنی ددې خبری په اوریدوسره دحویصة بن مسعود کشر ورور محیصة بن مسعود ﷺ دابن سبینه په نامه یو یهودی قتل کی چی یوتجارو او په خپله له محیصه ﷺ اوحویصه اودمدینی له نورخلکوسره یې هم تجارتی اړیکی درلودی دمحیصه ﷺ ورور حویصه لاترد غه وخت نه و مسلمان سوی او محیصه ﷺ خوترده مخکې اسلام راوړی وو حویصه په عمرکې ترمحیصه ﷺ مشرو و حویصه محیصه ﷺ بنه وډبوی ورته وې ویل چی اې دالله ﷻ دښمن تاسبینه ووژی قسم په الله ﷻ دهغه له مال څخه تاخپله ډیره ګټه اخیستی ده تادهغه هرڅه هیر کړل او ودې وژی محیصه ﷺ وویل (والله لقد امرنی بقتله من لو امرنی بقتلک لضربت عنقک)

ژباړه: زمادی قسم په الله ﷻ وې ماته دهغه دوژلوداسی مبارک ذات امرکړی دی چی که هغه ستادوژلو امرراته وکوی نو قسم په الله ﷻ ستاسربه هم په توره والوزوم..

حویصه وویل (آالله لوامرک محمد بقتلی لقتلتنی)

آیاقسم په الله ﷻ که محمد ﷺ تاته زمادوژلوامروکوی نوربنتیابه هم ته ماقتل کوی..

محیصه ﷺ وویل (نعم والله لو امرنی بضرب عنقک لضربتها)

هوزمادی په الله ﷻ قسم وی که ستادسردغوڅولوحکم راته وکوی نوخامخابه ستاسرغوڅوم. یعنی درسول الله ﷺ ترامرکولو وروسته بیاستادورو ګلوی هیڅ خیال نه ساتم، حویصه چی داخبره واوریده حیران پاته سو اوناڅاپه یې ترخوله داسی الفاظ ووتل: چی قسم په الله ﷻ همذادین حق دین دی چی په زړو کې دومره ټینګ اوپوخ وی اوپه رګوکې داسی جاری اوتلونکی وی لکه وینه په بدن کې سمدستی راغلی درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوپه پاک اوربنتینی زړه یې ایمان راوړی رضی الله تعالی عنه

(۱) عیون الاثر صفحه ۳۰۱، مستدرک جلد ۳ /ص/ ۴۳۵ ترجمه محمدبن مسلمه انصاری ﷺ)

دزیدبن حارثه رضی الله تعالی عنه سریه دهجرت دریم کال دڅلورمی خور میاشت ...

سیف لودین کتابتون

دبدرله پیښې وروسته دمکې قریش له مسلمانانو څخه دومره وویریدل چې دمسلمانانو دبریدله ویرې یې دشام ژړه لاره پرېښوده اودهغې پرځای یې دعراق پرنوی لاره تګ راتګ پیل کړاودلارښودنې دپاره یې فرات بن حیان عجلی په مزدوری له ځان سره ملګری کړیوه تجارتي قافله چې ډېره ارزښتناکه وه له مکې څخه شام ته دعراق په لاره روان سوه په دې قافله کې ابوسفیان بن حرب اوصفوان بن امیة اوحویطب بن عبدالعُزّی اوعبدالله بن ابی ربیعة هم وو (دمکې په فتح کې داټلورسره په اسلام مشرف سو ﷺ)

رسول الله ﷺ چې کله په قافله خبرسو نودسلو ۱۰۰ صحابه کرام ﷺ یوټولی یې دزید بن حارثه ﷺ په مشرۍ کې ولیږله : دوئ ورسیدل اوقافله یې لاندی کړه اوپرقافله یې بریدوکړدقافلې په نیولوکې خوکامیاب سو مګر دقوم مشران اوخانان اودقافلې نور خلک ټول وتښتیدل یوازې فرات بن حیان عجلی یې بندی کړ اوله ځان سره یې مدینې ته راوستی اوپه مدینه کې په اسلام مشرف سو ،

دغنیمت مال خوییخی ډېر وواندازه یې له دې کیږي چې دغنیمت پنځمه برخه چې بیله سوه هغه شل زره درهمه وه نوله دې معلومه سوه چې دغنیمت ټول شمیرسل زره درهم وو (۱)

دیهودی ابی رافع وژل کیدل دهجرت دریم کال دڅلورمې خورمیاشت !

ابورافع یوډېر شتمن یهودی تجاروو ابورافع یې کنیه وو عبدالله بن ابی الحقیق دهغه اصلی نوم وو سلام بن ابی الحقیق یې هم ورته ویل خیبرته نژدې په یوه کلي کې اوسیدی درسول الله ﷺ ډېر سخت دښمن وو اورنګارنګ تکلیفونه به یې هغه مبارک ﷺ ته رسول دکعب بن اشرف مرستندوئ وونوموړی داحزاب په غزاکې دمکې قریش دمسلمانانوپه مقابل کې راپاڅولي وو اوډېرزیاته مالي مرسته یې هم له دوئ سره کړی وه اوتل به یې درسول الله ﷺ او مسلمانانوپه دښمنی کې پیسې خرڅولې (۲)

دکعب بن اشرف قاتل محمدبن مسلمه ﷺ اودهغه ملګری ﷺ ټول داوس قبیلې څخه وو په دې وجه خزرج قبیلې دافکروکړ چې اوس قبیله خودرسول الله ﷺ دیوځانی دښمن او درسالت ددربار دیو بې ادبه اوپوچ ګوئ کعب بن اشرف په وژلوسره نیک بخته اوعزتمنده سوه نوله دې کبله موږ ته هم په کاردی چې دنبوت ددربار بل بې ادبه او پوچ ګوئ ابورافع په وژلوسره موږهم ددواړوجهانو عزت اوشرافت لاس ته راوړو دوئ درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو اودابورافع دوژلو اجازه یې وغوښته رسول الله ﷺ اجازه ورکړه (۳)

---

(۱) طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص /۲۵، زرقانی جلد ۲ /ص /۱۷)
(۲) البدایة والنهایة جلد ۴ /ص /۱۳۷)
(۳) فتح الباری جلد ۷ /ص /۲۶۲)

عبدالله بن عتیک رضي الله عنه او مسعود بن سنان رضي الله عنه او عبدالله بن أنیس رضي الله عنه ابو قتاده رضي الله عنه حارث بن ربعی رضي الله عنه او خزاعی بن اسود رضي الله عنه يې دهغه دوژلو دپاره ولیږل عبدالله بن عتیک رضي الله عنه يې پردوئ باندی امیروټاکی اوپه ټینګه يې داورته وفرمایل چې هیڅ کوچنی اوښځه دې بایدونه وژل سی (فتح الباری جلد ۷ /ص / ۲۶۳)

دهجرت دریم کال دڅلورمی خور ۱۵ وه تقریبا عبدالله بن عتیک رضي الله عنه له خپلو ملګرو سره دخیبرولوری ته روان سوتاریخ طبری په ۳ جلدصفحه ۶ کې له براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې دلمردلویدلووخت نژدی وو خلکوپسونه اوغوایې چرګان اونور حیوانات دپیولوله ځایه کوروته راوستل په همدې وخت صحابه رضي الله عنهم خیبرته ورسیدل دابورافع کلاته چې کله نژدی ورغلو نوعبدالله بن عتیک رضي الله عنه خپلوملګروته وویل تاسوکښینی زه قلعه ته دننوتلوڅه چل جوړوم دوئ هم کښیناستل عبدالله رضي الله عنه چې کله ښه دروازی ته نژدی ورسیدی نودبولوپه بهانه دروازی ته نژدی کښیناستی جامی يې پرځان شاوخواراوګرزولی لکه یوڅوک چې قضاحاجت کوی چوکیدارداڧکروکړ چې کیدای سی په کلاکې دچامیلمه وی چوکیداپه زوره وویل که دننه راځی نوژر راځه زه دروازه بندوم عبدالله رضي الله عنه وایې زه هم سمدستی ورننوتم اویوی خواته می ځان پټ کی اوکښیناستم ، زه ښه ترډیره وخت ناست وم ابورافع په لوړه خونه کې بانډارګرم کړی وو ده به دشپې نقلونه اوریدل کله چې دنقلووخت پوره سو خلک خپلوخپلو کوروته ولاړو اوپیردار دروازه بنده کړه اوددروازی کلیانی يې په یوه میخ وځړولی ،

کله چې ښه چوپتیاخوره سوه اوټول خلک ویده سو زه راولاړسوم اوله میخ څخه می کلیانی راواخیستی اودروازه می خلاصه کړه وروسته بالاخانی ته وختلم اوکله چې بالاخانی ته ختم نوهره دروازه چې به می خلاصوله هغه به مې بیرته راپسی بندوله ددې دپاره چې که خلک راخبرسی نو مابه خپل کار کړی وی .کله چې زه بالاخانی ته ورسیدم نوپه هغه خونه کې تیاره وه ابورافع په خپل کورنۍ اوعیال کې بیده وو ماته دده ځای نه معلومیدی مازغ پروکی چې اې ابورافع . ابورافع وویل څوک يې ماپه هغه لوری په ویره دتوری وار وکړ مګر خطاولاړی ، ابورافع یوه غټه چیغه وکړه زه هم نورغلی سوم یوګړی وروسته می آواز بدل کی دیودردمن په څیرمی په ټیټ آواز وویل اې ابورافع داڅه ږغ وو ابورافع وویل اوس پرمایوچادتوری وارو کوی ددې ځل اواز په اوريدو سره مادتوری بل وار پروکوی چې په دې وار سره په ابورافع ښه واروسو دتوری تیره خوا مې دهغه په نس کې کیښوده اوداسی زور مې ورکی چې ملاته ورسیده زه ښه ډاډمن سوم چې مادهغه کارسر ته ورسوی زه بیرته راکښته سوم په کښته کیدو کې می یوه یوه دروازه خلاصوله کله چې دپای ځنی ته راغلم نودافکر می وو چې ځمکه رانژدی ده هغه یوه ځینه پاته وه

سيف لودين كتابتون

لاندې راولویدم او دپونډۍ هډوکی می مات سو دسپوږمۍ شپه وه پګړۍ می خلاصه کړه او پونډۍ مه په وتړله او خپلو ملګروته راغلم ودوئ ته مې وویل چی تاسو د رځی اورسول الله ﷺ ته زیری ورسوی زه دلته کښینم دده دمرګ اعلان اورم بیا درځم کله چی سهار سو او چرګ بانګ وکړ نویو آواز کونکی دکلاو دیواله ته پورته سو او دابورافع دمړینی اعلان یې وکړ زه هم له دغه ځایه روان سوم او په لاره کې له ملګرو سره یوځای سوم ودوئ ته مې وویل چی ژر ځي الله ﷻ ابورافع هلاک اوبرباد کی له هغه ځایه راغلو درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضر سو اوزیری مو پرو کړ او کومه پښه چی تیره شپه سوې وه هغه ټوله مو ورته بیان که رسول الله ﷺ وفرمایل : ته پښه وغوغځوه ماهم پښه وغځوله رسو ل الله ﷺ لاس مبارک زما پرپښه راتیر کړ داسې جوړه سوه لکه تراوسه چی هیڅ تکلیف نه وورارسیدلی (بخاری شریف باب قتل ابی رافع فتح الباری باب قتل ابی رافع ، البدایه والنهایه جلد ۲، صفحه ۱۳۸)

دأحد غزا دهجرت دریم کال دکوچنی اخترمیاشت ! (۱)

قال الله تعالی (وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (۱۲۱) سورة آل عمران)

دمکی قریشو چی دبدر په ورځ بی ساری اوشرمیدونکی ماته وخوړه او مکی ته ورسیدل داکاریې وکی چی هغه تجارتی قافله کومه چی ابوسفیان دسیند له لاری خوندی راوستله هغه ګټه او اصل شتمنی یې ټول په دارالندوه کې دامانت په ډول خوندی کړل دبدرد بی ساری ماتی اوشرم اوذلت څخه ډک زخم خودهرمشرک په زړه کې وو مګر دکومو خلکو چی پلاریازوی یاورور یاوراره یانور خپلوان په بدرکې وژل سوی وو هغوئ ته به کله ناکله غصه ورغله اودبدلی اخیستو دجذبی له اوره دهرمشرک سینه ډکه وه بالاخره ابوسفیان بن حرب (۲) . عبدالله بن ابی ربیع . عکرمه بن ابی جهل ، حارث بن هشام ، حویطب بن عبدالعزی . صفوان بن امیه اودقریشو نورمشران په یومجلس کې راغونډ سوا و داپریکړه یې وکه چی هغه تجارتی قافله خو امانت ده ددې ګټې دې ټولې دمحمد ﷺ سره دجنګ په تیاری کې ولګول سی ددې دپاره چی موږ له مسلمانانو دخپلو پلرو اوزامنو خپلوخپلوانو مشرانو عزتمندو هغه چی په بدرکې هلاک سو بدله واخلو ټولو په یوه خوله داخبره په ډیره خوشالۍ ومنله او ټوله ګټه چی دهغه اندازه پنځوس زره دیناره وه هغه ټول یې دمسلمانانو دمقابلې لپاره راټوله کړه .

---

(۱) اُحد دمدینی منوری دیوه غره نوم دی له مدینی منوری څخه دوه میله لیری دی اُحد ته ولی احد وایې ځکه داحد غرله نورو غرو جلا پروت دی متوحد یعنی منفرد دی (البدایه والنهایه جلد ۴ ص/۹)

(۲) دبدر په غزا کې دابوسفیان زوی حنظله اودعکرمه پلار ابوجهل اودحارث بن هشام ورور ابوجهل بن هشام اودصفوان بن امیه پلار امیه وژل سوی وو مګر وروسته ابوسفیان ، عبدالله بن ابی ربیعه ، اوعکرمه بن ابی جهل ، اوحارث بن هشام اوحویطب ، اوصفوان ټول ه مسلمانان سو (رضی الله عنهم ، زرقانی جلد ۲ ص/۲۰)

سیف لودین کتابتون

په دې اړه داآیت نازل سو : إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ (٣٦) سورة الانفال
ژباړه : رښتیاهم کافران خپل مالونه خرڅوي ددې پاره چې خلک دالله ﷻ له لارې وګرزوي نوژرده چې دوئ به نورهم خرڅ کړي اوبیابه دوئ ټول په هغه باندې افسوس کوي او په آخرت کې به مغلوب وي

دمکې مشرکینوښځې هم له ځان سره په لښکرکې ملګرې کړې !

لنډه داچې قریشو د جنګ تیاري وکوې اوښځې یې هم له ځان سره ملګرې کړې ددې دپاره چې هغوئ رجزیه شعرونه ووایې اودجنګیالوهمتونه لوړکې اوتښتیدونکوته پیغورورکړي اوددې لپاره چې جنګیالي دښځودعزت په خاطر په ښه عزم اوخلاصه سینه وجنګیږي دشاته تلونوم هم نه واخلي اووقبائلوته یې هم قاصدان ولیږل چې په دې جنګ کې له موږسره شریک سي اودغه شان ددرې زروکسانولښکر جوړسو په هغه کې اووه سوه کسانوزغرې اغوستې وې اودوه سوه آسان اودرې زره ۳۰۰۰ اوښان اوپنځلس ښځې ورسره وې دادرې زره لښکرپه ډیره جذبه اوولوله دابوسفیان بن حرب په مشرۍ دهجرت په دریم کال دکوچنی اخترپه پنځمه له مکې څخه روان سو (طبقات ابن سعد جلد ۲ صفحه ۲۵ قسم اول زرقاني جلد ۲ صفحه ۲۰ تاریخ طبري جلد ۳ صفحه ۹)

عباس رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم دقریشوپه اراده خبرکړ

عباس رضی الله عنه دمکې ټول حالات ولیکل اوونبي کریم ﷺ ته یې دیوه تیز تلونکي قاصد په لاس لیک ولیږی اوپرقاصدیې ډیرټینګاروکړچې په درې ورځې کې به خامخا دالیک ورسول الله ﷺ ته رسوي (زرقاني جلد ۲ /ص/ ۲۱)

رسول الله ﷺ له صحابه کرام رضی الله عنهم سره مشوره

دعباس رضی الله عنه دلیک په رسیدوسره رسول الله ﷺ سمدستي انس اومونس رضی الله عنهما دقریشو دلښکر دحالاتو دمعلومولو دپاره ولیږل هغوئ دواړه راغلو داخبرې راوړې چې دقریشو لښکرمدینې ته ډیخې نژدې رارسیدونکي دي تردې خبرورسته حباب بن منذر رضی الله عنه ددوئ دشمیر دمعلومولو دپاره ولیږل سو چې دامعلومه کې چې دقریشو دفوځ شمیرڅودی حباب رضی الله عنه ورغلی اودقریشو دفوځ لیدنه یې وکه اوښه اندازه اوشمیرېې معلوم کې راغلی ورسول الله ﷺ ته یې خبر ورکې ، سعدبن معاذ رضی الله عنه اواسیدبن حضیر رضی الله عنه اوسعدبن عباده رضی الله عنه ټوله شپه دمسجدنبوي پیره وکړه اودښارپه اطرافواوشاوخواسیموکې هم پیرې ودرول سوې ، طبقات ابن سعد جلد ۲، صفحه ۲۵) همداجمعې شپه وه کله چې سهارسو نورسول الله ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم راوغوښتل مشوره یې وکړه مشرانومهاجرینو اوانصارو رضی الله عنهم دامشوره ورکړه چې په مدینه کې به یاته سو دلته دننه په

سيف لودين كتابتون

ښارکې دې جګړه وسی مګر کوم ځوانان چې دبدرپه جنګ کې نه ووشریک سوی اودشهادت په مینه نارامه وو دهغوئ داخوښه وه چې له مدینی څخه دباندی بایدپردوئ باندی حمله وسی رسول الله ﷺ وفرمایل : ماخوب لیدلی (۱) چې زه په یوه مضبوطه زغره کې یم اویوه غوا حلالیږی ، ددې خوب معنی دادی چې مدینه په منزله دزغری ده اودغواحلالیدل ودې ته اشاره دی چې زمادصحابه ﷺ څخه به څه خلک شهیدانیږی نوزماخوداسی خوښه ده چې په مدینه کې قلعه بندی وکوو اودننه په مدینه کې جنګ ورسره وکوو اوپه خوب کې مې داهم لیدل دی چې ماتوره وښوروله چې دهغې دمخ برخه ماته سوه ولویده بیامادویم ځل هغه توره وښوروله نوهغه توره ترمخکې وار ډیره ښه وځلیده چې ددې معنی بیادادی چې صحابه کرام ﷺ داسی دی لکه توره کله چې رسول الله ﷺ په لومړی ځل توره وښوروله یعنی غزوه احدکې نودهغه مخکنۍ برخه ماته سوه یعنی څه صحابه کرام ﷺ شهیدان سو هغه توره یې بیا یې په بله غزا کې استعمال کړه نوهغه ترمخکې وارډیره ښه وځلیده اوپه دښمنانوښه وچلیده ،،

له عبدالله بن ابی بن سلول رئیس المنافقین نظرهم وپوښتل سوځکه دابی بن سلول زوی ډیرهوښیاراوتجربه ناک سړی وو هغه وویل چې تجربه خوداده چې کله کوم دښمن په مدینه باندی حمله کړی ده اودمدینی خلک په ښارکې دننه پاته سوی دی مقابله یې کړی ده نوکامیابی زموږ وه اوکله چې دباندی وتلی یو اوحمله موکړی نوناکام سوی یو یارسول الله ﷺ ته دمدینی څخه دباند ی مه وزه قسم په الله کله چې موږپه مدینه کې پاته سو ی یو اودښمن پرموږیرغل کړی دی نودښمن ته زموږله لاسه ډیر تکلیف رسیدلی دی ته دمدینی کلابندی وکړه دښمن که چیری مدینی ته داخل هم سی نوهرسړی به دهغوئ سره په توره مقابله وکوی اوماشومان اوښځې به یې له باموپه ډبرو اوکاڼوولی اوکه کلابندی کامیابه سوه دوئ ولاړو نوداخوزموږهدف اومقصددی (۲)

مګر بعض مشران اوځوانانوپه دې باندی ډیرزیات ټینګاروکړ چې بایدله مدینی څخه دباندی حمله وسی اوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ موږخوددې ورځې هیله اوامیدونه درلودل اوله الله ﷻ به مودادعاء غوښته الله ﷻ دغه ورځ راوسته اوځای هم ډیر نژدی دی ، حمزه اوسعدبن عباده اونعمان بن مالک ﷺ وویل یارسول الله ﷺ که موږپه مدینه کې پاته سواودوئ دفاع وکوو نوزموږدښمن به داالله په لاره کې موږ بی غیرته اوکمزوری وبولی اوحمزه ﷺ وویل (وَالَّذِی اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ لاَ اَطعم الیوم طعاماحتی اجادلهم بسیفی خارج المدینه (۳) قسم په هغه پاک ذات چې پرتاباندی یې کتاب نازل کړی

(۱) همداخوب نبی کریم ﷺ دهمدې جمعی په شپه لیدلی وو کمافی الطبقات لابن سعد جلد ۲ /ص /۲۶)
(۲) تاریخ طبری جلد ۳ /ص /۱۱) ——— (۳) البدایه والنهایة ج ۴ /ص /۱۲، زرقانی ج /۲/ ص /۲۳)

سيف لودين كتابتون

دی ترهغه وخته پوري به خوراک ونه کړم ترڅوچي له مدينې څخه دباندی ماله خپلو دښمنانو سره په توره جګړه نه وی کړی .

نعمان بن مالک انصاری ﷺ وویل (یارسول الله لاتحرمنا الجنة فوالذی بعثک بالحق لادخلن الجنة) اې دالله رسول ﷺ موږ له جنت څخه مه بې برخې کوه قسم په هغه ذات چې ته يې په حق راليږلی يې خامخابه جنت ته داخليږم رسول الله ﷺ وفرمايل ولی به خامخاداخليږی ؟

نعمان په ځواب کې ورته وايي : (لانی اشهدان لااله الاالله وانک رسول الله ولاافرُّ يوم الزحف) ځکه به جنت ته داخليږم چې زه شاهدی ورکوم چې له الله ﷻ پرته بل هيڅوک دعبادت اوبندګی لائق نسته اويشکه ته دالله ﷻ رسول ﷺ يې اوزه په جنګ کې هيڅ کله نه تښتم ..

اوپه يوبل روايت کې داسې الفاظ راغلی دی (لانی احب الله ورسوله) ځکه زه له الله ﷻ اود هغه له رسول ﷺ سره ډيره مينه لرم ،

رسول الله ﷺ دده په ځواب کې وفرمايل (صدقت) تاربښتياوويل .

رسول الله ﷺ چې کله دصحابه ﷺ دوه ډيرټينګارروليدی چې دوئ دجنت په بدل کې دسر سوداکوی ځوانانوخومخکې لاپردې خبره ټينګ ولاړو اودمهاجرينواوانصارو ﷺ يو شميرمشرانولکه حمزه ﷺ اوسعدبن عباده ﷺ هم دشهادت په مينه کې ناکراره وو دوئ هم دځوانانوپرلارتګ غوښتل نورسول الله ﷺ هم له مدينې دوتلونيت وکړ .

دجمعی ورځ وه کله چې رسول الله ﷺ دجمعی له لمانځه خلاص سو وعظ اونصيحت يې وکوي دجهادترغيب اودجګړی دتياری حکم يې وکوی ، ددې خبری په اوريدوسره دالله ﷻ ددوستانو مخلصوعاشقانو اودالله ﷻ دديداردمينه لرونکو په بدن کې ساه وچليدله اوپوه سو چې اوس ددې دنياله بندی خانې دتلووخت نژدی سوی اوله دې پنجری څخه زموږدازادی وخت راغلی دی : خرّم آن روز کزين منزل ويران بردم :::::::: راحت جان طلبم وزپئ جانان بردم

داُحدلپاره درسول الله صلی الله عليه وسلم تياری اودوسلې ياسلاح غوښتنه

کله چې دوئ دمازيګرلمونځ وکی درسول الله ﷺ هغه دوه ملګری چې په دنياکې هم له نبی کريم ﷺ سره ملګری اوپه عالم برزخ کې به هم له نبی کريم ﷺ سره وی اودحشرپه ميدان کې اوحوض کوثراوپه جنت کې به هم له نبی کريم ﷺ سره يوځای وی يعنی ابوبکرصديق ﷺ اوعمرفاروق ﷺ دوئ درې واړه د رسول الله ﷺ مبارکی حجری ته ولاړل رسول الله ﷺ لاله حجری مبارکی څخه دباندی نه ووراوتلی چې سعدبن معاذاواسيدبن حضير رضي الله عنهما خلکوته وويل چې تاسو رسول الله ﷺ دښارڅخه دباندی په وتلوباندی په حمله کولوباندی مجبوره کی اوسره له دې په هغه باندی دالله ﷻ وحی نازليږی ښه خبر دادې چې رسول الله ﷺ خپلی خوښې ته پريښودل سی په همدې وخت کې رسول الله ﷺ

سیف لودین کتابتون

دوې زغرې لاندې باندې اغوستې وې او له حجرې راووتې صحابه ﷺ وویل یارسول الله ﷺ موږ خطاسو ستاد خوښې موږ ستاد خوښې مخالفت وکړ او دا زموږ د پاره بېخې نامناسب او ښه کار نه وو ته یوائې په خپله رایه عمل وکوه ، رسول الله ﷺ وفرمایل هیڅ نبی (۱) ته دا نه دې روا چې یو ځل وسله پورته کې بیرته یې کیږدي مخکې تردې چې هغه د الله ﷻ له دښمنانو سره جګړه ونه کوي او پوه سی چې ترڅو پورې تاسو صبر کونکي او ثابت قدم یاست نو د الله ﷻ فتح او مرسته له تاسو سره ده

اُحد ته د رسول الله ﷺ روانېدل او د فوځ سمبالول

د کوچنی اختر یو ولسم ۱۱ ورځ د جمعې د ماز دیګر له لمانځه وروسته رسول الله ﷺ له زر ۱۰۰۰ کسانو سره له مدینې روان سو رسول الله ﷺ په آس باندې سپور وو او سعد بن معاذ او سعد بن عباده رضی الله عنهما زغرې اغوستې وې د رسول الله ﷺ مخ ته روان وو او نور ټول صحابه رضی الله عنهم د هغه څخه راسته او چپه لوری ته روان وو (دا تفصیل ټول په طبقات ابن سعد او زرقانی کې ذکر سوی دی)

له مدینې څخه چې کله وتل د شیخین (۲) په نامه ځای ته ورسیدل نو د فوځ کتنه یې وکړه په دوئ کې چې کوم دلږ عمر هلکان وو هغوئ یې بیرته مدینې ته راولیږل د رالیږل سویو وړو غازیانو رضی الله عنهم نمونه په لاندې ډول دی :

(۱) اسامه بن زید ﷺ (۲) زید بن ثابت ﷺ (۳) ابو سعید خدری ﷺ (۴) عبدالله بن عمر ﷺ (۵) اسید بن ظهیر ﷺ (۶) غرابة بن اوس ﷺ (۷) براء بن عازب ﷺ (۸) زید بن ارقم ﷺ)د رسول الله ﷺ په خدمت کې او ولس صحابه کرام ﷺ وړاندې سو چې د دوئ عمرونه څورلس کاله وو نبی کریم ﷺ دوئ قبول نه کړه او بیرته یې ولیږل کله چې یو کال وروسته د پنځلس کالو په عمر کې حاضر سو نو رسول الله ﷺ د جهاد اجازه ورکړه (زرقانی جلد ۲، صفحه ۲۵)

په دې وړو صحابه کرامو ﷺ کې یو هم رافع بن خدیج ﷺ وو هغه دا هوښیاری وکړه چې د ګوتو پرسر وودریدی د دې د پاره چې قد یې غټ معلوم سی رسول الله ﷺ هغه ته اجازه ورکړه او دده په اړه دا هم ویل سوی دی چې نو موړی ډیر ښه غشی ویشتوکي وو عمر بن عبدالعزیز یوه ورځ له نافع ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې عبدالله بن عمر ﷺ په کومو کومو غزاګانو کې له رسول الله ﷺ سره یو ځای برخه اخیستې ده ؟ نافع ﷺ وویل ما ته په خپله ابن عمر ﷺ ویلی دی چې کله چې د بدر غزا پیښه سوه نو په هغه وخت کې زه د ۱۳ دیار

---

(۱) له دې معلومیږي چې دا حکم یوائې په نبی کریم ﷺ پورې خاص نه دی هر پیغمبر ﷺ تر دې حکم لاندې دی چې دوسلې ترپورته کولو وروسته پر ته له جهاد بیرته وسله ایښودل روا نه دی)

(۲) شیخین ده دوو غوندیانو نوم دی چې د مدینې او احد په مینځ کې پرتې دی په دې غوندیانو کې یو ړوند یهودی او یوه ړنده بوډۍ یهوديه اوسیدل ځکه ودې ځای ته شیخین وایې د دوئ دوو په نامه مشهوره وو)

سیف لودین کتابتون

لسو کالووم او کله چې د اُحد غزا پېښېږه سوه په هغه وخت کې زه د څور لسو کالووم د بدر په غزاکی خوز ما د تلو اراده نه وه مګر د احد په غزاکې مې د تللو اراده وکه او له رسول الله ﷺ څخه مې غوښتنه وکه مګر رسول الله ﷺ ذکو چنیوالی په وجه قبول نه کړم او همدارنګه زید بن ثابت او اوس بن عرابه رضی الله عنهما هم د کم عمری په وجه ونه منل سو مګر رافع بن خدیج ﷺ ته داوږده قد درلودلو په وجه سره اجازه ورکړل سوه کله چې د خندق غزا پېښېږه سوه نو په هغه وخت کې زه د ۱۵ کالووم او رسول الله ﷺ ماته اجازه راکړه او زه له رسول الله ﷺ سره په غزاکی شریک سوم ، عمر بن عبدالعزیز د حدیث له اورید و سره سمدستی کاتب ته حکم وکړ چې ډېر ژر دا حدیث ولیکه ځکه خلک د خپلو زامنو او وروڼو د پاره د بیت المال څخه وظیفه غواړی نو ځکه دې ښه پلټنه وسی چې څوک په ریښتیا هم د پنځلسو ۱۵ کالو وی هغه د مجاهد و جنګیالو په لیسټ کې درج کړل سی د بیت المال څخه دی د هغوئ معاش وټاکل سی او هغه چې تر پنځلو کالو دلږ عمروی د هغوئ نوم دی د وړو ماشومانو په لیسټ کې ولیکل سی (عیون الاثر صفحه ۳۳۳)

سمرة بن جندب ﷺ چې د رافع بن خدیج ﷺ همزولی وو هغه په ډېر افسوس خپل علاتی پلار مری بن سنان ﷺ ته وویل اې پلاره ، رافع ﷺ ته خو اجازه وسوه او زه پاته سوم او سره له دې زه تر هغه ډېر غښتلی یم رافع ﷺ راغورزولی سم مری بن سنان ﷺ هم سمدستی رسول الله ﷺ ته دده خبره وړاندی که چې تا رافع ﷺ ته اجازه ورکړه او زمازوی دی ونه منی او سره له دی زمازوی رافع ﷺ راپرځولای سی ، ؟

رسول الله ﷺ رافع ﷺ او سمره ﷺ په غیږ سره ورو ستل سمره ﷺ رافع ﷺ راوپرځوی نو رسول الله ﷺ سمره ﷺ ته هم اجازه ورکړه ، طبری جلد ۳، صفحه ۱۲، ماشومان او زاړه ځوانان او کمزوری ټول په یو قسم شرابو مست اونشه وو تر شهادت مخکې دمننی په توره شهیدان سوی وو رضی الله عنهم ورضوا عنه ،،

دا ُحد له فوځ د منافقینو بیلوالی او شاته تګ

کله چې اسلام فوځ اُحد ته نژدی ورسید ی نو رئیس المنافقین عبد الله بن ابی بن سلول چې له ده سره هم د درې سوو کسانو ډله وه وویل چې رسول الله ﷺ زما خبره ونه منله موږ خپل ځانونه ولی په هلاکت کې واچوو دا جنګ نه دی که موږ دا جنګ کېدلای نو ستا سو سره به مو ملګرتیا کړی وه دوئ له لاری راوګرزیدل . د منافقینو په اړه دا آیت نازل سو :

وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَاتَّبَعْنَاكُمْ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ مَا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ (١٦٧) آیت سورة آل عمران)

سيف لودين كتابتون

له نبی کريم ﷺ سره يوائي اووه ۷۰۰ سوه صحابه کرام ؓ پاته سو چی په دوئ کې يوائی سل تنو ۱۰۰ په زغرو پوښلی وو اوپه ټول لښکرکې دوه آسان وو يودرسول الله ﷺ اوبل دابوبردة بن نيارحارثی ؓ سره (۱)

له خزرج قبيلی څخه بنی سلمه اوله اوس قبيلی څخه بنی حارثه هم دابن ابی په څير دبيرته ګرزيدواراده وکړه اودادواړه قبيلی دلښکردواړوخواووته وی دالله ﷻ توفيق ددوئ مرسته وکړه اوالله تعالی دوئ وساتل اوبيرته ونه ګرزيدل ددوئ په اړه داآيت نازل سو :

إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ (۱۲۲) سورة آل عمران)

يادکړه هغه وخت چی کله همت وبايلوستاسوڅخه دوو ډلواوالله ﷻ ددوئ مرسته وکړه ځکه دبيرته ګرزيدوڅخه وساتل سو اوټولو مؤمنانو ته په الله ﷻ باندی تکيه کول په کاردی

تردې وخت لارسول الله ﷺ شيخين ځای ته نه وورسيدلی چی لمرلويدی بلال ؓ اذان وکی رسول الله ﷺ دماښام لمونځ ورکړ اوپه همدې ځای کې پاته سواوشپه يې تيره کړه محمدبن مسلمه ؓ ټوله شپه دفوځ دڅارنی لپاره پرلپسی دفوځ پرشاوخواراګرزيدی اوبيرته به راغلی درسول الله ﷺ پرخيمه به يې پيره کوله .

دشپې په آخری برخه کې رسول الله ﷺ دکوچ کولوامروکی کله چی دوئ احدته نژدی ورسيدل نودسهاردلمانځه وخت سو بلال ؓ ته يې دآذان حکم وکړ اذان اواقامت وسو اورسو ل الله خپلو ملګرو ؓ ته لمونځ ورکړ.

د اُحددفوځ ترتيب اوسمبالول !

رسول الله ﷺ دلمانځه ترآداکيدووروسته لښکرته متوجه سو مدينه ته مخامخ اواُحدغره ته يې شاکړه په دې ترتيب سره يې صفونه برابرکړل اوکوم صفونه چی مخکې دالله ﷻ ذوالجلال دتعظيم اولويی دپاره لاس پرنامه ولاړوو اوس دوئ دهغه لوی اولوړذات په لاره کې دسرښندنی اوقربانی اودهغه په لاره کې دجهاددپاره سرونه په لاس ولاړوو (۲)

په صحيح بخاری کې له براء بن عازب ؓ څخه روايت سوی دی چی رسول الله ﷺ د پنځو س غشی ويشتونکو يوه دسته داحدغره شاته ودرول ددې لپاره چی قريش دشاله لوری حمله ونه کوی اوعبدالله بن جبير ؓ يې ددوئ امير وټاکی اوداحکم يې ورته وکړ چی که موږ په مشرکينوغالبه سو نوبيابه هم تاسوله دې ځايه نه ولاړيږی اوکه مشرکين په موږباندی غالبه سی هم به تاسوله دې ځايه نه ولاړيږی اونه به زموږدمرستی لپاره راځي دزهير ؓ په روايت کې داسی راغلی دی چی که مرغانو زموږغوښې خوړی اوتاسوليدلی بيابه هم له دې ځايه نه ولاړيږی اونه به بلی خواته ځی ..

(۱) طبری جلد ۳ /ص/ ۱۲ (۲) ابن سعد جلد ۲ /ص/ ۲۷۷

سیف لودین کتابتون

په مسنداحمداومعجم طبراني اونوروکې له ابن عباس ﷛ څخه روايت سوی دی چی رسول الله ﷺداسی وفرمايل ﷺسوپه دې ځای کې ودرېږی اودشاله لوری زموږساتنه کوی که موږووژل سوی ووینی نوبیابه هم زموږدمرستی لپاره نه راځی اوکه موږغنیمت لاسته راوړنکي ووینی نوهم به له دې کنډوه نه راکښته کیږی . (۱)

په اُحدکې دقریشودلښکر حال

دقریشولښکردچهارشنبی په ورځ مدینی ته ورسیدی اودأحدپه لمن کې یې پړاوواچوی ددوئ شمیر درې زره ۳۰۰۰ تنه وو چی په هغوکی اوه سوه ۷۰۰تنه له سره ترپښوپه زغرو پوښلی وو اودوه سوه ۲۰۰ آسان اودرې زره ۳۰۰۰ اوښان ورسره وواودمکی د مشرانو اوخانانو پنځه لس ښځی هم ورسره وی چی دوئ به په شعرویلوسره نارینه جنګ ته پارول (۲)دنفسانی اوخواهش پرست اوشیطانی خلکوخوهمداعادت دی،نعوذبالله من هذا) دیوشمیرښځونمونه په لاندې ډول دی:

(۱) هنده بنت عتبه دابوسفیان ښځه اودمعاویه مور (۲) ام حکیم بنت حارث بن هشام دابوجهل دزوی عکرمه مور (۳) فاطمه بنت ولید دحارث بن هشام ښځه (۴) برزة بنت مسعوددصفوان بن امیه ښځه (۵) ریطه بنت شیبة دعمروبن العاص ښځه (۶) سلافه بنت سعد ،دطلحه بن ابی طلحه جمحی ښځه (۷) خناس بنت مالک دمصعب بن عمیر ﷛ مور (۸) عمرة بنت علقمه ،

علامه زرقانی لیکی چی له خناس اوعمره پرته دانوری ټولی ښځی وروسته په اسلام مشرف سوی دی رضی الله عنهن)

قریشودخپل لښکرپه راسته خواباندی خالدبن ولید اوکیڼ لوری ته عکرمه بن ابی جهل اوپه پلی فوځیانوباندی صفوان بن امیه اوپه غشی ویشتونکوباندی عمرو بن العاص اوعبدالله بن ابی ربیعه مشران اوقمندانان وټاکل مګر وروسته دقریشودلښکرداپنځه سره امیران ټوله په اسلام مشرف سوی دی ..

په اُحدکې رسول الله ﷺ ابودجانه ﷛ ته توره ورکړه

کله چی دواړه صفونه برابرسو رسول الله ﷺیوه توره په لاس کې پورته کړه اووې وفرمایل (من یأخذ هذالسیف بحقه) څوک دی چی ددې توری حق آداکی .

ددی خبری په اوریدوسره ډیر لاسونه پورته سو ددې نیک بختی دحاصلولودپاره مګر نبی کریم ﷺ خپل لاس مبارک کښته کړوروسته ابودجانه ﷛ ولاړسو اوغوښتنه یې وکړه چی یارسول الله ﷺددې توری حق څه دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل چی ددې حق دادی چی

(۱) فتح الباری جلد ۷ /ص /۲۷۰) ـــــ (۲) زرقانی جلد ۲ /ص /۲۶)

سیف لودین کتابتون

په دې دالله ﷻ دښمنان سرونه ترهغه وخت ووهل سي چې ښه ساړه سی (داروایت په مسنداحمداوصحیح مسلم کې له انس ؓ څخه اوپه معجم طبرانی کې له قتاده بن النعمان ؓ اوپه مسندبزارکې له زبیر ؓ څخه نقل سوی دی)

حافظ ابوبشردولابی داحدیث په کتاب الکنی کې له زبیر ؓ څخه روایت کړی دی په هغه کې داسی راغلی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : چې ددې توری حق دادی چې په دې هیڅکله بایدهیڅ مسلمان ونه وژل سی اوددې په اخیستلوسره بایدهیڅکله دکافرله مقابلې ونه تښتی ؟

ابودجانه ؓ وویل یارسول الله ﷺ زه به ددې توری حق آداء کړم ، رسول الله ﷺ سمدستی هغه توره ابودجانه ؓ ته ورکړه کیدای سی چې رسول الله ﷺ ته دوحی الهی له لاری دامعلومه سوی وی چې پرته له ابودجانه ؓ بل څوک ددې توری حق نه سی اداء کولای ځکه یوائې ابودجانه ؓ ته ورکړل سوه ،، والله سبحانه وتعالی اعلم (۱)

(ف)ابودجانه ؓ ډیر غیرت مند میړنی دلاوره پهلوان وودجنګ په وخت کې پرهغه باندی دتکبر اولویې اودناز اونخرو یوعجیبه نشه غوندی کیفیت راتلی کله کله به یې په جنګ کې سره بګړی یالنګوټه تړله اوګام ګام به روان وو غالباً په دې وجه رسول الله ﷺ داتوره ورکړه لکه چې په راتلونکی کی به دهغه له جګړو څخه دده دلاوری معلومه سی

دأحدجګړه پیل سوه اودقریشو جنګیالي یوپه بل پسي وژل کیدل

دقریشوله لوری ترټولومخکې دجګړی میدان ته ابوعامرفاسق راووتی ابوعامر د جاهلیت په وخت کې داوس قبیلې مشراوسرداروو اودپرهیزګاری اوملنګی په وجه دراهب نوم پرایښودل سوی وو کله چې په مدینه کې داسلام رڼاخپره سوه نوداشبکور ددې توان نه درلودی چې داسلام رڼاپه سترګووینی سمدستی مکی ته ولاړی،رسول الله ﷺ دراهب پرځای دفاسق نوم پرکیښودی ،

کله چې مکی ته ولاړی قریش یې درسول الله ﷺ دمقابلې دپاره راپاڅول اودأحدپه جنګ په خپله له دوئ سره یوځای میدان ته راغلی دئ پردې باوری وو چې که داوس قبیلې خلک ماووینی نوسمدستی به دمحمد ﷺ پلوی پریږدی اوزماملګری به سی .

لومړی مبارز داحدپه میدان کې ترټولولومړی همداابوعامر فاسق میدان ته راووتی اوداوینایې وکړه (یامعشرالاوس انا ابوعامر الراهب) اې داوس خلکو زه ابوعامرراهب یم : الله ﷻ دې داوس سترګی یخی کی چې هغوئ سمدستی داسی ځواب ورکړ :

(لا انعم الله بک عینا یا فاسق)

اې دالله دښمنه الله ﷻ دې ستاسترګی هیڅکله نه یخوی اې فاسق فاجره .

---

(۱) الاصابه جلد ۲ /ص /۵۸، زرقانی جلد ۲ /ص /۲۸)

سیف لودین کتابتون

ابوعامرچې کله ددوئ غابښ ماتونکی ځواب واوریدی ناهیلی سو اوبیرته شاته ولاړی اوداسی یې وویل چې زماد قوم حالت ترما وروسته بدل سوی دی (۱)

دویم مبارز :ترده وروسته دمشرکینو مشر طلحه بن ابی طلحه میدان ته راووتی اود مبارز غوښتنه یې وکړه اوداسی یې وویل اې دمحمد ﷺ ملګرو ستاسو داګمان دی چې الله عزوجل موږ ستاسو په توروسره ډیرژردوزخ ته رسوی اوزموږ توری بیاتاسو ډیرژرجنت ته رسوی نوآیاپه تاسو کې داسی څوک سته چې هغه زماپه توره ژرجنت ته ورسیږی یازه دده په توره ژر دوزخ ته ورسیږم،،

ددې خبری په اوریدوسره علی کرم الله وجهه دمقابلی لپاره راووتی علی رضی الله عنه پرده دتوری ګذاروکړ دطلحه پښه غوڅ سوه اوپرمخی پرځمکه راولویدی اوبی پردی سو علی رضی الله عنه دشرم په وجه شاته سو نبی کریم ﷺ پوښتنه وکړه اې علی رضی الله عنه ولی شاته سوی علی رضی الله عنه وفرمایل ماته دهغه له بربنډ والی حیاراغله نوځکه شاته سوم (۲) ابن سعد وایې چې علی رضی الله عنه دده پرسرباندی دویم ګذاروکړ او په دې ګذارسره دهغه سردوه ځایه سو رسول الله ﷺ ډیرخوشاله سو اودالله اکبرنعره یې وکړه صحابه رضی الله عنهم هم دالله اکبرنعره وکوله غالباً دعلی رضی الله عنه لومړنی وار دطلحه پرپښه باندی لګیدلی وی چې په دې وارسره دهغه پښه پری سوه اودویم وار دهغه پرسرباندی لګیدلی وی چې په دویم ځل دهغه دسر کوپړی دوې ټوټې سوه دابن جریرپه یوروایت کې دالومړنی دتور واریادسوی دی اودابن سعدپه روایت کې دویم واریادسوی دی نوځکه په دواړوروایتو کې هیڅ ټکر نسته ..

دریم مبارز ترده وروسته عثمان بن ابی طلحه بیرغ پورته کی اوداشعرېې لوستی میدان ته راغلی إِنَّ عَلَى أَهْلِ اللواء حَقًّا.........ان تَخْضَبَ الصَّعْدَةُ أَو تَنْدَقَّا

پربیرغ وړونکی دالازم دی چې جګړه به کوی ترڅوچې دده نیزه ددښمن په وینوسره سی یاماته سی

دده په مقابل کې حمزه رضی الله عنه راووتی حمزه رضی الله عنه ورمخکې سو اوحمله یې پروکړه اودعثمان دواړه لاسونه اودواړه اوږی یې پریکړی او دهغه له لاسه بیرغ ولویدی اوپه لږوخت کې دهغه ژوندپای ته ورسیدی

څلورم مبارز ترده وروسته ابوسعدبن ابی طلحه بیرغ پورته کی سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه سمدستی په نښه کې اوهغه یې پرغاړه وویشتی چې ددې غشی له کبله دهغه ژبه دباندی راووتله سعدبن وقاص رضی الله عنه ورمخکې سو اودابوسعدبن طلحه ژوندپای ته ورسیدی

(۱) زرقانی جلد۲،صفحه ۳۰ ابن هشام جلد۲، صفحه ۷۹ طبری جلد ۳، صفحه ۱۶، عیون الاثرصفحه ۳۳۶،، البدایه والنهایة جلد۴، صفحه ۱۶)

(۲) زرقانی جلد۲ /ص/۳۱)

سیف لودین کتابتون

پنځم مبارز ترده وروسته مسافع بن ابی طلحه بیرغ پورته کی عاصم بن ثابت ﷛ دتوری په یوه گذار سره دهغه ژوند واخیستی.
شپږم مبارز ترده وروسته حارث بن طلحه بن ابی طلحه بیرغ پورته کی هغه بیاد عاصم ﷛ په لاس ووژل سو او دیو شمیر نورو په خبره زبیر ﷛ هغه قتل کړ.
اووم مبارز کلاب بن طلحه بن ابی طلحه بیرغ پورته کی زبیر ﷛ وروړاندی سو دهغه ژوند هم پای ته ورسیدی.
اتم مبارز ترده وروسته جُلاس بن طلحه بن ابی طلحه بیرغ پورته کی طلحه ﷛ سمدستی پرهغه حمله وکړه او دتوری په یوه گذار سره یې هغه ووژی.
نهم مبارز ارطاة شرحبیل بیرغ پورته کی ، علی کرم الله وجهه دده کار وکړ.
لسم مبارز شریح بن قارظ بیرغ پورته کی او مخکې ولاړی ځای پرځای هغه وټکول سو او دشریح ژوند هم دلته پای ته ورسیدی دشریح قاتل معلوم نه دی چی څوک دی
یوولسم مبارز :: ترده وروسته دده مریئ صواب بیرغ پورته کړ او رامخکې سو سعد بن ابی وقاص ﷛ یا حمزه یا علی ﷛ یوه یوه دمختلفو قولو پربنیاد دهغه ژوند واخیستی (۱)
په همدې ترتیب دوه ویشت مشران ووژل سو چی دهغوئ نمونه علامه بن هشام په تفصیل سره ذکر کړی دی او له هریوه سره یې داسی ویلی دی چی فلانی مشر دفلانی صحابی په لاس ووژل سو (۲)

ابو دجانه ﷛ داحد په میدان کې سره لنگوټه وپیچله دغیرت شجاعت دلاوری نښه

ابو دجانه ﷛ هغه څوک دی چی رسول الله ﷺ خپله توره وکړی وه ډیر غیرتمند دلاوره او غښتلی جنگیالی وو لومړی هغه خپله سره لنگوټه راوایستله او په سریې وتړله او په ډیر تکبر غرور په گام گام یوه بغل اوبل بغل کیدو سره میدان ته راووتی او دا شعرونه یې ویل

اَنَاالَّذِی عَاهَد نی خلیلی ....ونحن بالسفح لدی النخیل

زه هغه څوک یم چی له ماڅخه هغه دوست ژمنه اخیستی ده هغه وخت دده مینه زما زړه مینځ ته ننوتلی ده یعنی محمد ﷺ په داسی حالت کې چی موږ دغره په اړخ دخورما دونو په څنگ کی وو .

ان لا اقوم الدهر فی الکیول ....اضرب بسیف الله والرسول

هغه ژمنه داده چی هیڅکله به دشا په صف کې نه دریږم او دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ په توره به دالله ﷻ ددښمنانو سرونه وهم .
رسول الله ﷺ چی کله ابو دجانه ﷛ دتکبر په حالت کې ولیدی وې فرمایل چی داتگ دالله ﷻ ډیر ناخوښه دی مگر نه په داسی وخت او ځای کې لکه نن یعنی کله چی یو ائی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ ددښمنانو په مقابله کی وی دخپل نفس دغوښتنی لپاره نه وی .

——— (۱) زرقانی جلد ۲ /ص /۳۱، ابن سعدج /۲/ ص /۲۸) ——— (۲) ابن هشام جلد ۲ /ص /۸۳ ، زرقانی جلد ۲ /ص /۳۱)

سیف لودین کتابتون

ابودجانه ﷺ دزمرى په شير مغروره روان او صفونه يې شيرل هرڅوک چې به مخ ته ورغلی دهغه بدن به لاندی پرځمکه پروت وو ترڅو چې دابوسفيان ښځه هنده دده ومخ ته راغله ابودجانه ﷺ په هنده باندی توره پورته کړه مګر سمدستی يې لاس ونيوی چې داهيڅ مناسب کارنه دی چې درسول الله ﷺ توره دی پر ښځه باندی وچلول سی .

په يوروايت کې راځي چې کله ابودجانه ﷺ هندی ته نژدی ورسيدی نوهندی خلکوته فر يادوکړمګرهيڅاهم ددې مرسته ونه کړه ابودجانه ﷺ فرمايې چې ماته دامناسب نه ښکاريده چې درسول الله ﷺ توره په يوه بی پناه اوبی مرستی ښځی باندی وازمويم (۱)

دحمزه ﷺ دغيرت دلاوری اوجګړی اوشهادت يادونه

حمزه ﷺ دزمری په شيربريدونه کول ټول قريش يې سرګردان اوغمجن کړه پرچا چې به يې توره پورته کړه دهغه لاس به په ځمکه پروت وو حمزه ﷺ همداسی جنګيدی اودجنګ په ميدان کی وحشی بن حرب چې دجبيربن مطعم مريئ وو دبدرپه غزا کې دجبيرآکامطعم بن عدی دحمزه ﷺ په لاس وژل سوی وو جبيرته په دې سره ډيره صدمه رسيدلی وه نوځکه جبيروحشی بن حرب ته وويل چې که ته زمادآکاپه بدله کې حمزه ﷺ شهيدکی نوته آزاديې کله چې قريش دأحدجنګ ته روان سو نووحشی بن حرب هم له دوئ سره ملګری سو کله چې په اُحدکی دواړه لښکری سره مخامخ سوی اوجګړه پيل سوه نوپه همدې ميدان کې صباع بن العزی دهل من مبارز ا يازمامقابل څوک سته ، ناره وکړه ميدان ته راووتی حمزه ﷺ دهغه په غوښتنه ورمخکې سو او ورته وې ويل اې سباع اې دښځو دسنت کونکی ښځي زويه ته دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ مقابله کوی دايې وويل اوپه هغه باندی يودم دتوری ګذاروکړ په يوه ګذاردهغه ژوندپای ته ورسيدی اودمرګ کندی ته يې ورټيل وهی . په همدې وخت کې وحشی بن حرب دحمزه ﷺ په طلب کې ديوسخرغټی ډبری شاته پټ ناست وو کله چې حمزه ﷺ دهغه خواته تيريدی نووحشی له شاڅخه دهغه په نامه باندی برابر نيزه وويشته چې دحمزه ﷺ پوری خواته ووتله حمزه ﷺ څوګامه لانه ووتللی چې راولويدی اودشهادت جام يې نوش کی انا لله وانا اليه راجعون (داروايت دصحيح بخاری دی) په مسندابی داؤدطيالسی کې راغلی دی چې وحشی وايې کله چې زه مکی ته ورسيدم نوآزادسوم اودقريشوسره يواځي دحمزه ﷺ دشهادت دپاره تللی وم زماهدف دجنګ ګټل يابايلل نه وو يواځي دخپلی آزادی لپاره تللی وم (۱) دحمزه له شهادت وروسته له لښکرڅخه بيل کښيناستم ځکه زمابل څه مقصدنه وو يواځی دآزادی لپاره په حمزه ﷺ پسی ګرزيدم

(۱) البدايه والنهاية جلد ۴ /ص/ ۱۶) ـــــــــ (۲) فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۲۸۲)

سیف لودین کتابتون

(ف) دمکی له فتحی وروسته دطائف له پلاوی سره وحشی رسول الله ﷺ ته مدینی منوری ته داسلام راوړلو په نیت راغلی خلکو هغه ولیدی اوورته وې ویل چی یارسول الله ﷺ داوحشی دی یعنی ستاد ګران محبوب مینه ناک آکا حضرت حمزه ؓ قاتل دی.

رسول الله ﷺ وفرمایل (دعوه فلاسلام رجل واحد احب الی من قتل الف کافر)

وحشی پرېږدی ځکه دیوه سړی اسلام راوړل دزرو کافرانو تروژلو زماډیر خوښ دی تراسلام راوړلو وروسته رسول الله ﷺ له وحشی څخه دحمزه ؓ دشهادت قصه وپوښتله وحشی په ډیره شرمندګی اوپښیمانتیا سره یوائحي دامردپوره کولوپه نیت قصه ورته بیان کړه رسول الله ﷺ داسلام ښوونه ورته وکړه اودايې ورته وویل که کیدای سی نوزما مخ ته مه راځه ځکه ستاپه لیدوسره زمادآکاغم نورتازه کیږی وحشی ؓ چی به کله د رسول الله ﷺ مجلس ته حاضر سو نودرسول الله ﷺ شاته به کښیناستی اوپه دې فکرکې به وو چی ددې به څه بدله ورکوم خوبیایې بدله آداکه هغه دا چی مسلیمة الکذاب چی له خاتم النبیین والمرسلین ﷺ وروسته یې دنبوت دعوه وکړه وه وحشی ؓ په هم هغه نیزه مسیلمة دروغجن جنهم ته ورسوی.

اولکه څنګه چی حمزه ؓ په نامه باندی په ویشتلوسره شهید کړی وو همدغه رنګه یې مسلیمة الکذاب هم په نامه وویشتی اوپه نیزه یې دوزخ ته ورسوی په دې طریقه یې بدله ورکړه ځکه دیوخیرالناس چی حمزه ؓ دی دشرالناس چی مسلیمة الکذاب دی دده په بدل کې ووژی (۱)

په صحیح بخاری کې راغلی دی چی دمسلیمة الکذاب په وژلوکې له وحشی ؓ سره یوانصاری ؓ هم ملګری وو واقدی اواسحاق بن راهویه اوحاکم وایې عبدالله بن زیدبن عاصم مازنی ؓ وو اویوشمیرییاوایې عدی بن سهل ؓ اونوربیاوایې ابودجانه ؓ اوڅوک بیاوایې زیدبن خطاب ؓ وو اونور بیاوایې شنّ بن عبدالله وو لکه چی له لاندی شعروڅخه دامعلومیږی:

الم ترانی ووحشیهم .... ضربنا مسلیمة المفتن

آیاته په دې نه یې خبر چی مااووحشی دواړوپه یوه ځای مسلیمه فتنه پیداکونکی ووهی

لیسائل الناس عن قتله .... فقلت ضربت وهذا طعن

خلک له ماپوښتنه کوی چی مسلیمه چاووژی اوچاووهی ماځواب ورکی چی ماپه توره ووهی اووحشی په نیزه ووهی

فلست بصاحبه دوشن .... ولیس بصاحبه دون شن

نو دمسلیمه وژونکی نه زه یم یوائحی اونه وحشی دی پرته له مااو شنّ (۲)

---

(۱) فتح الباری جلد ۷ /ص / ۲۸۴، .. ۲۸۵) ______ فتح الباری جلد ۷ /ص / ۲۸۴)

سیف لودین کتابتون

له وحشي څخه روایت دی چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم رسول الله ﷺ وفرمایل تا حمزه شهید کړی دی ماوویل (نعم والحمدلله الذی اکرمه بیدی ولم یهنی بیده) هو هغه الله ﷻ لره دې حمد او شکروی چې هغه زما په لاس حمزه ﷺ ته د شهادت عزت ورپه برخه کی او زه یې د هغه په لاس سره ذلیل نه کړم ځکه که وحشي په دغه وخت کې د حمزه ﷺ په لاس وژل سوی وای نو د کفر په حالت کې به مړ وو او تر کفر لوی ذلت نسته تردې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: اې وحشي ولاړ سه د الله ﷻ په لار کې داسي وجنګېږه لکه څنګه چې تا د الله ﷻ د لاری د بندولو د پاره جنګ کوی (رواه الطبرانی واسناده حسن (۱)

د اُحد د شهید حنظله غسیل الملائکه رضی الله تعالی عنه د شهادت بیان

حنظله ﷺ د ابوعامر فاسق چې مخکې یې بیان تیرسو د هغه زوی دی د احد په غزا کې د رسول الله ﷺ ملګری وو. د ابوسفیان او حنظله ﷺ مقابله سوه کله چې حنظله ﷺ ورمخته سو او پر ابوسفیان یې توره پورته کړه د شاله لوری شداد بن اسود د تور وار پر وکی او حنظله ﷺ شهید سو، نبی کریم ﷺ وفرمایل: ما فرښتې ولیدلې چې حنظله ﷺ ته دوریځی په اوبو د زرو په لوښی کې غسل ورکوی،

وروسته د حنظله ﷺ له ښځی پوښتنه وسوه (۲) هغې وویل چې حنظله ﷺ د جنابت په حالت کې جهاد ته روان سوی وو او په همدغه حالت کې شهید سو نو ځکه فرښتو د ته غسل ورکی (رواه ابن اسحاق والحاکم وصححه ورواه ابن سعد وغیره خصائص کبری جلد ۱، صفحه ۲۱۶) (۳)

په کومه ورځ چې حنظله ﷺ شهید کیدی په هغه شپه د حنظله ﷺ میرمن خوب ولیدی چې د اسمان یوه دروازه خلاصه سی او حنظله ﷺ په هغه کې دننه داخل سی او ترننوتلو وروسته هغه دروازه بیرته بنده سی دده میرمن په دې خوب سره پوه سوه چې حنظله ﷺ به نور له دې دنیا څخه رخصت اخلی

د جنګ له ختمیدو وروسته چې کله د هغه د بدن پیداسو نو تر ویښتانو یې اوبه څڅیدلې (۴) ځکه حنظله ﷺ د غسیل الملائکه په لقب سره ونومول سو د حنظله ﷺ پلار ابوعامر فاسق خود رسول الله ﷺ په مقابله کې جنګیدی نو ځکه حنظله ﷺ له رسول الله ﷺ څخه د خپل پلار د وژلو اجازه وغوښته مګر نبی کریم ﷺ اجازه ورنه کړه (رواه شاهین واسناده حسن، اصابه ترجمه حنظله ﷺ بن ابی عامر)

د مسلمانانو په دې زور و روبرید و نو سره د جګړې له ډګره د قریشو پښې وښویدی او یوی او بلی خواته یې منډې وهلی مخونه یې پټ کړه او شاوی یې واړولی او وتښتیدل او ښځی یې غمجنی او حیرانه پاته سوی د غره و خواته وتښتیدل او مسلمانان د غنیمت د مال په راټولولو بوخت سو.

---

(۱) مجمع الزوائد جلد ۶ /ص/ ۱۱۱)

(۲) د حنظله ﷺ د میرمن نوم جمیله وه ﷺ د اصحابیه ده د منافقینو د مشر عبدالله بن ابی بن سلول خوردی (روض الانف واصابه)

(۳) خصائص کبری جلد ۱ /ص/ ۲۱۶) ——— (۴) روض الانف جلد ۲ /ص/ ۱۳۳)

سیف لودین کتابتون

داحد غره له کنډوه غشي ويشتونکي له خپل ځايه ولاړسو او جنګ پربل مخ واوښتي

دغشي ويشتونکي هغه ټولي چي دغره په کنډوکي شاته کښينول سوي وو کله چي دوئ وليدل چي بري دمسلمانانوسو اوفتح وسوه اومجاهدين دغنيمت مال په راټولولو بوخت دي دوئ هم هغه لوري ته منډي کړي ددوئ مشرعبدالله بن جبير ﷺ اجازه نه ورکوله اوډيرټينګاريې ورته وکوی ورته وې ويل چي رسول الله ﷺ ډيرټينګارکړی وو چي تاسوبه ددې ځای څخه نه ولاړيږی مګردوئ ونه منله او دغره کنډويې پريښودی اودغنيمت دمال په راټولونکوکې شامل سو .

داحد غره په کنډوکي دعبدالله بن جبير ﷺ اودهغه دلسو ١٠ ملګرو شهادت

دغشي ويشتونکوپه مرکز کې يوازي عبدالله بن جبير ﷺ اولس تنه نورمجاهدين پاته سو دنبي کريم ﷺ دامرمخالفت وسو چي يوناڅاپه فتح په شکست اوبری په ماته بدل سو خالدبن وليد چي دمشرکينو دلښکرپه راسته طرف باندي اميروو غونډ ی خالي وليدله اودشاله خوايې پرمسلمانانو حمله وکړه عبدالله بن جبير ﷺ سره له خپلو ملګرو شهيد سو

دمصعب بن عمير رضی الله تعالی عنه شهادت

دمشرکينوپه ناڅاپي اويوه ځل بريدسره دمسلمانانو صفونه مات سو اودالله ﷻ دښمنان رسول الله ﷺ ته نژدې ورسيدل ، دمسلمانانوبيرغ وړونکی مصعب بن عمير ﷺ رسول الله ﷺ ته نژدی وو هغه ښه وجنګيدی ترڅوچي شهيد سو ترده وروسته رسول الله ﷺ بيرغ علی کرم الله وجهه ته ورکړعلی ﷺ بيرغ پورته کی .

مصعب بن عمير ﷺ له رسول الله ﷺ سره په څيره کی ډير مشابه وو نوځکه شيطان داناره وکړه چي محمد ﷺ شهيد سوددې خبرپه اوريدوسره په ټولو مسلمانانوکې خفګان اوغم خپورسواوددې ويرونکی خبر په اوريدو سره ټول له يوه مخه حيران پاته سواودومره سرګردان سو چي دخپل دوست اودښمن توپيريې هم نه سو کولای اويوپربل يې دتورو وارونه وکړه .

دحذيفه ﷺ پلاريمان ﷺ دمسلمانانوپه لاس په غلطی شهيد سو

دحذيفه ﷺ پلاريمان ﷺ هم په دې مينځ کې راغلی حذيفه ﷺ له ليری څخه وليدی چي مسلمانان دده پلاروهی ناره يې ووکړه اې دالله ﷻ بندګانو دازماپلاردی مګر په هغه حالت کی داخبره هيچاهم نه اوريده آخرداچي يمان ﷺ شهيدسو مسلمانان چي کله په دې خبرسو چي دادحذيفه ﷺ پلاروو نوډيرپښيمانه سو اووې ويل قسم په الله ﷻ که موږپيژندلی وی حذيفه ﷺ وويل (يَغْفِرُ اللهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ) الله ﷻ دې تاسو وبښی هغه ترټولوډير مهربانه دی ، رسول الله ﷺ وحذيفه ﷺ ته ددیت دمړی پور ورکولووويل مګر حذيفه ﷺ قبول نه کی په دې سره درسول الله ﷺ په زړه کې دحذيفه ﷺ مينه نوره هم زياته سوه (١)

(١) طبری جلد ٣ /ص / ٢٦ ، فتح الباری جلد ٧ /ص / ٢٧٩ ، زرقانی جلد ٣ /ص / ٣٢) ابن هشام جلد ٢ /ص / ٨٧)

سیف لودین کتابتون

په احد کې دخالدبن ولید په ناڅاپي بریدسره داسلامی لښکرپښې ښویدل اودرسول الله ﷺ بې مثاله استقامت اوثابت قدمي .

دخالدبن ولیدپه ناڅاپي بریدسره که څه هم دلویوپهلوانانوپښې ولړزیدې مگر د رسول الله ﷺ په ثابت قدمي اوټینګ والي کې یوه زره تغیراوتبدیل هم نه دی راغلي او څنګه راتلای سی ځکه دالله نبی ﷺ اودهغه رسول ﷺ معاذالله بزدل کیدای نه سی غرله ځپله ځایه ښوریدلای سی مګرانبیاء علیهم السلام له خپل ځای نه پرېږدي یوائې دیوه پیغمبر ﷺ میړانه اوهمت دټولي دنیاترمیړانه اوهمت په څوچنده لوړاوډیردی لکه چی همدا خبره په دلائل بیهقی کې له مقداد ﷺ څخه روایت سوی ده :

فوالذی بعثه بالحق ما زالت قدمه شبرا واحدا وانه لفی وجه العدو ویفیئ الیه طائفة من اصحابه مرة وتفترق مرة فربما رأیته قائما یرمی عن قوسه ویرمی بالحجر حتی انحازوا عنه (زرقانی جلد۲، صفحه ۴۲)

زمادی قسم په هغه پاک ذات وی چی محمد ﷺ یې په حق رالیږلی دی درسول الله ﷺ پښه مبارکه یوه لویشت هم له خپله ځایه نه دی ښوریدلی اوربښتیاهم ددښمن په مقابله کې ټینګ ودریدی دصحابه وو ﷺ یوه ډله به کله دنبی کریم ﷺ مرستی ته راغله اوکله به بیرته ولاړه اوډیرځله ماولیدل چی هغه به په خپله ولاړوو اوغشی اوکاڼی به یې دلیندی څخه ویشتل ترڅو چی دښمنان ده مبارک ﷺ لیری وشړل .

په اُحدکې درسول الله صلی الله علیه وسلم دفاعی ساتونکی رضی الله عنهم

ابن سعدلیکي چي ددې ګډوډی اوغم اوخفګان په حالت کې څورلس ۱۴ صحابه ﷺ دنبی کریم ﷺ سره پاته سو ۷ مهاجرین او اووه ۷ انصار ﷺ وودهوئ نمونه په لاندی ډول دی :

مهاجر ساتونکی (۱) ابوبکرصدیق ﷺ (۲) عمربن الخطاب ﷺ (۳) عبدالرحمن بن عوف ﷺ (۴) سعدبن ابی وقاص ﷺ (۵) طلحه ﷺ (۶) زبیربن عوام ﷺ (۷) ابوعبیده ﷺ

انصار ﷺ ساتونکی (۱) ابودجانه ﷺ (۲) حباب بن منذر ﷺ (۳) عاصم بن ثابت ﷺ (۴) حارث بن صمه ﷺ (۵) سهیل بن حنیف ﷺ (۶) سعدبن معاذ ﷺ (۷) اسید بن حضیر ﷺ

په مهاجروکې دعلی کرم الله وجهه نوم نه دی سویاد ځکه دمصعب بن عمیر ﷺ ترشهادت وروسته رسول الله ﷺ بیرغ علی ﷺ ته ورکړی وو علی ﷺ په جګړه بوخت وو ،

داڅورلس صحابه کرام ﷺ درسول الله ﷺ سره وو مګر کله ناکله به دکومی اړتیاپر مهال بل لور ته هم تلل مګر ژربه بیرته راستنیدل نوله دې کبله به کله له رسول الله ﷺ سره دوولس ۱۲ تنه صحابه ﷺ پاته سو لکه چی په صحیح بخاری کې له براء بن عازب ﷺ څخه روایت سوی دی . اوکله به یولس ۱۱ پاته سو لکه په نسائی اودلائل بیهقی کې له جابر ﷺ څخه په جید سند سره روایت سوی دی .

دوخت اوحالاتوپه بدلیدوسره به کله درسول الله ﷺ دساتونکو شمیرزیات سواوکله به کم سو نوځکه روایتونه مختلف دی دهرراوی بیان دخپل خپل وخت په لحاظ سره پرځای دی

سيف لودين كتابتون

اوصحيح دی کله به دوولس ۱۲ سو او کله به يولس ۱۱ سو او کله به اووه ۷ تنه له رسول الله ﷺ سره پاته سو الله ﷻ لره دې حمدوی داټول روايتونه متفق دی هيڅ تعارض نسته . دتفصيل دپاره فتح الباری جلد ۷، صفحه ۲۷۷ اوزرقانی جلد ۲، صفحه ۳۵ وګوری)

په احدکې دقريشو په رسول الله ﷺ ناڅاپی هجوم راوړل اودصحابه کرام ؓ قربانی

په صحيح مسلم کې له انس ؓ څخه روايت دی چی کله په رسول الله ﷺ باندی قريشوهجوم راوړی نورسول الله ﷺ وفرمايل څوک دی چی ددې خلکومخ واړوی اوپه جنت کې زماملګری سی له انصارو ؓ څخه اووه ۷ تنه په نوبت وجنګيدل اوشهيدان سو ، (صحيح مسلم جلد ۲، صفحه ۱۰۷ غزوه احد ، ورواه احمد کمافی البدايه والنهايه جلد ۴، ص ۲۶)

دابن اسحاق په روايت کې راغلی دی چی رسول الله ﷺ وفرمايل (من رجل يشری لنا نفسه) داسی څوک شته چی زموږ لپاره خپل ځان وپلوری ، ددې خبری په اوريدوسره زيادبن سکن ؓ اوپنځه انصار ؓ ودريدل اويوپه بل پسی په لامثال ميړانه اودلاوری وجنګيدل ترڅو چی ټول شهيدان سو اوخپل ځانونه يې وپلورل اوجنت يې په بدل کې رانيوی .

په احدکې دفدايي زيادبن سکن ؓ شهادت

زياد ؓ چی کله ټپی سو او راولويدی نونبی کريم ﷺ وفرمايل چی زماخواته يې راوړی دوئ درسو ل الله ﷺ خواته راوړی هغه خپل بارخو درسو ل الله ﷺ پرمبارکوپښوباندی کيښوداوپه همدې حالت کې يې ساه ورکړه (اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ ابن هشام جلد۲، صفحه ۸۳)

په احدکې عتبه بن وقاص رسول الله ﷺ په کاڼی وويشتی !

دسعدبن ابی وقاص ؓ ورور عتبه بن ابی وقاص وخت پيداکی او رسول الله ﷺ يې په يوه کاڼي وويشتی چی په هغه کاڼی سره درسول الله ﷺ لاندينی غاښونه مبارک شهيدان سو اولاندی شونډيې زخمی سو سعدبن ابی وقاص ؓ وايې زه چی څومره دخپل ورور عتبه دمرګ تږی سوم دومره دهيچادمرګ تږی اوحريص سوی نه يم (رواه ابن اسحاق (۱)

په احدکې په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندی دعبدالله بن قميه بريد

عبدالله بن قميه دقريشوډير غښتلی اومشهورپهلوان وو په رسول الله ﷺ باندی په داسی زور سره بريد وکړ چی درسول الله ﷺ بارخومبارک زخمی سو اودخول دوې کړۍ يې په بارخوکې ننوتی اوعبدالله بن شهاب (۲) زهری ورپسی پرتندی په کاڼی وويشتی اوتندی مبارک يې زخمی سو په مخ مبارک باندی يې چی کله وينه راغله نو دابو سعيد خدری ؓ پلار مالک بن سنان ؓ ټوله وينه وڅيښله اودرسول الله ﷺ مخ مبارک يې پاک اوصفاکی رسول الله ﷺ وفرمايل (لن تمسک النار) تاته به دجهنم اورهيڅ کله نه رسيږی . . ځکه درسول الله ﷺ وينه دده له وينی سره يوځای سوه .

---

(۱) فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۲۸۱ (۲) عبدالله بن شهاب زهری

سیف لودین کتابتون

په معجم طبراني کې له ابوامامه رضي الله عنه څخه روايت دى چې ابن قميه د رسول الله ﷺ ترزخمى کيدلو وروسته داوويل (خذها وانا ابن قمية) واخله دا زه دقميه زويم .
رسول الله ﷺ په ځواب کې ورته وويل :
اقماک الله : الله تعالى دې تاذليل اوخوار هلاک تباه اوبرباد کړي ..
څوورځى نه وې تيرې سوې چې الله تعالى پرهغه باندى يوه غرنى بزه مسلطه کړه چې هغې په خپلو ښکرو سره دقميه زوى ټوټى ټوټى کړ (١)

په احدکې له رسول الله ﷺ سره دعلى رضي الله عنه اوطلحه رضي الله عنه مرسته

د رسول الله ﷺ په بدن مبارک باندى د دوو زغرو د روندوالى هم وو ځکه نو رسول الله ﷺ په يوه کنده کې وغورځيدى دا هغه کنده وه چې ابوعامر فاسق د مسلمانانو دپاره جوړه کړې وه على رضي الله عنه اوطلحه رضي الله عنه رسول الله ﷺ ترلاس ونيوى اوطلحه رضي الله عنه دشاله مرسته ورسره وکړه دوئ په دواړو رسول الله ﷺ راپورته کې رسول الله ﷺ وفرمايل چې که څوک غواړى دځمکى پرمخ ګرزيدونکى ژوندى شهيد ووينى هغه دې طلحه رضي الله عنه ته وګورى ،
عائشه صديقه رضي الله عنها بنت صديق رضي الله عنه دخپل پلار ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه روايت کوى چې دنبى کريم ﷺ په مخ مبارک کې دزغرى دوې کړى ننوتلى وى ابوعبيدة بن الجراح رضي الله عنه هغه په خپلو غاښو سره ونيولى اوراکش يې کړى چې په دې سره دابوعبيدة رضي الله عنه دواړه غاښونه شهيدان سو رضى الله تعالى عنه واضحک سنه يوم القيامه آمين .ددې روايت سند صحيح دى (٢)
رسول الله ﷺ چې کله غره ته دختلو اراده وکړه نو دکمزورى اوضعف او د دوو زغرو د روند والى له کبله مجبور سو چې پر يوشئ باندى غره پورته سى په دغه وخت کې طلحه رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته اوږه ورکړه رسول الله ﷺ دطلحه رضي الله عنه پر اوږه باندى پښه مبارکه کيښوده اوغره ته پورته سو ،، زبير رضي الله عنه فرمايې چې ماپه دغه وخت کې دنبى کريم ﷺ څخه داسى واوريدل (اوجب طلحه) طلحه رضي الله عنه دځان لپاره جنت واجب کى (رواه ابن اسحاق)
قيس بن حازم رضي الله عنه فرمايې چې ماد طلحه رضي الله عنه هغه لاس وليدى چې په هغه سره يې داحد په ورځ د رسول الله ﷺ دفاع کړى وه هغه بيخى له کاره لويدلى اوشل وو (رواه البخارى)
حاکم په اکليل کې روايت نقل کړى دى وايې چې داحد په ورځ طلحه رضي الله عنه پنځه ديرش يا نه ديرش ځايه زخمى سو په ابوداؤد طيالسى کې له عائشه صديقه رضي الله عنها څخه روايت دى چې دابوبکر صديق رضي الله عنه په مخکې چې به کله داحد ورځ ياده سوه نوده به ويل (کان ذلک اليوم لطلحة) داحد ورځ خود طلحه رضي الله عنه لپاره وه .

---

(١) فتح البارى جلد ٧ /ص /٢٨، زرقانى جلد ٢ /ص /٣٨) ــــ (٢) زرقانى جلد ٢ /ص /٣٨، ابن هشام جلد ٢ /ص /٨٤)

له جابر څخه روایت دی چی د دښمنانو په برید سره د طلحه ﷺ ګوتی پری سوی طلحه ﷺ بی اختیاره وویل حَسّن (۱) رسول الله ﷺ وفرمایل : لوقلت بسم الله لرفعتک الملائکة والناس ینظرون الیک حتی تلج بک فی جوِّ السماء (رواه النسائی والبیهقی بسند جید (۲)

که چیری تا د حسن لفظ ویلو پرځای بسم الله ویلی وه نو ملائکو به ته اسمان ته پورته کړی وی او خلکو به تاته کتل ترڅو چی ته به یې د اسمان په فضاء کې ننه ایستلی وی دا حدیث نسائی او بیهقی په ډیر قوی او حسن سند سره روایت کړی دی.

عائشه صدیقه ﷺ له خپل صدیق ﷺ پلار څخه روایت کوی چی مو ږ د احد په ورځ د طلحه ﷺ پربدن تر ۷۰ زیات ټپونه ولیدل (رواه ابوداؤد الطیالسی فتح الباری جلد ۷، صفحه ۶۶ مناقب طلحه دانس ﷺ ناسکه پلار ابو طلحه ﷺ ډیر ښه غشی ویشتونکی وو دا حد په ورځ یې دوې یادرې لیندۍ ماتی کړی له هرچا سره چی به د غشو ګوډانه یا کڅوړه وه او ددوئ وڅنګ ته به تیریدی نو نبی کریم ﷺ به ورته فرمایل چی دا ګوډانه ابو طلحه ﷺ ته پریږده رسول الله ﷺ به د جګړي پرمهال سرپورته کړ خلکو ته به یې کتل نو ابو طلحه ﷺ به داسی ورته ویل

(بأبی وامی لا تشرف یصبک سهم من سهام القوم نحری دون نحرک (بخاری شریف صفحه ۵۸۱)

زما مور او پلار دې پرتا قربان شی ای د الله عزوجل رسول ﷺ ته سرمه لوړه وه هسی نه چی د دښمنانو غشی پرتا ولګیږی زموږ سینی ستا د سینی ساتونکي پټونکي زغری دی.

سعد بن ابی وقاص ﷺ ډیر ښه غشی ویشتونکی وو د اُحد په ورځ رسول الله ﷺ د خپلی ګوډانی څخه ټول غشی راوایستل او د سعد ﷺ مخ ته یې وغورزول او وې فرمایل :

(ارم فداک ابی و امی) غشی وویله زما مور او پلار دې پرتا قربان سی.

علی ﷺ فرمایې : چی ما (۳) له سعد بن ابی وقاص ﷺ څخه پرته د بل هیچا پاره د رسول الله ﷺ فداک ابی وامی نه دی اوریدلی (بخاری شریف صفحه ۵۸۱) حاکم روایت کړی دی چی دا حد په ورځ سعد ﷺ زر دانی غشی وویشتل، زرقانی جلد ۲، صفحه ۴۲)

په اُحد کې د ابو دجانه رضی الله تعالی عنه لا مثال قربانی

ابو دجانه ﷺ (۴) له خپلی سینی ډال جوړ کی او د رسول الله ﷺ مخ ته ودریدی شایې دښمنانو ته که غشی چی به راتلل دده پر شا به مو ښتل او مخ یې د رسول الله ﷺ وخوا ته وو هرڅو مره غشی چی به پرده ولګیدل دئ له ځایه هیڅ نه ښوریدی له دې ویری چی هسی نه یو غشی په رسول الله ﷺ باندی ولګیږی (رواه ابن اسحاق ۵)

(۱) په فتح الباری د حَسّن لفظ په نون سره راغلی دی یعنی ښه دې وی او علامه زرقانی پرته له نون نقل کړی دی یعنی حَس لکه زموږ له خولی چی د درد په وخت کې آه یا اوه ووزی) —— (۲) فتح الباری جلد ۷ /ص /۲۸۷، زرقانی جلد ۲ /ص /۳۹) —— (۳) یعنی دا حد په ورځ یې یوازې سعد ﷺ ته وویل داسی نه چی په هیڅ وخت کې یې نه دې ویلی د بنی قریظه په غزاکې یې وزبیر ﷺ ته فداک ابی وامی وویل چی په صحیح بخاری باب مناقب زبیر ﷺ کې ذکر سوی دی (فتح الباری جلد ۷ /ص / ۶۶ مناقب سعد بن ابی وقاص ﷺ) —— (۴) حافظ ابن عبدالله فرمایې چی ابو دجانه ﷺ د مسیلمة الکذاب په وژلو کې برخه درلوده او په همدغه جنګ کې شهید سو ﷺ (استیعاب) —— (۵) زرقانی جلد ۲ /ص ۴۳

سیف لودین کتابتون

(ف)لکه څنګه چې رسول الله ﷺ خاتم النبيين وو دنبوت کمالات پرده باندې پوره سوي وو دغه رنګه محبوبيت هم پرده باندې پای ته رسيدلي وو او په صحابه کرامو ﷺ باندې عشق هم ختم وو قسم په الله ﷻ ددې قربانۍ مخ ته دليلى او مجنون ټول داستانونه ګرزي

درسول الله ﷺ افسوس کول په مشرکينو باندې

له انس ﷺ څخه روايت دی چې داحد په ورځ رسو ل الله ﷺ دخپل مخ مبارک څخه وينه پاکوله اوداسې وفرمايل هغه قوم به څنګه کامیابی پيداکي چې دوئ دخپل پيغمبر ﷺ مخ په وينو ورنګوی او حال داچې هغه يې وخپل رب ته رابولي (رواه احمد والترمذی والنسائی)

رسول الله ﷺ دقريشو ديو څو مشرانو په حق کې ښيراکول اود آيت نازليدل

په صحيح بخاری کې له سالم ﷺ څخه مرسلاً روايت سوی دی چې رسول الله ﷺ دصفوان بن اميه اوسهيل بن عمرواوحارث بن هشام په حق کې ښيراوکړه په دې اړه دا آيت نازل سو :لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ (١٢٨) سورة آل عمران)

په دې کارکې ستاهيڅ خوښه نسته ترڅو چې الله تعالى مهربانی وکوی یاودوئ ته دتوبی توفيق ورکړی یادوئ ته عذاب ورکی ځکه هغوئ ظالمان دی .

حافظ عسقلانی لکي چې دادرې کسان دمکه په فتح کې په اسلام مشرف سول غالباً په دې وجه الله تعالى ددوئ په حق کې له ښيراکولو څخه منع وکړه اود آيت کريمه نازل سو (فتح البارى جلد ٧، صفحه ٢٨١)

عبدالله بن مسعود ﷺ به فرمايل چې زه داسې احساسوم چې رسول الله ﷺ زماستر ګو ته مخامخ دی اوله تندی مبارک څخه وينه پاکوی اوداسې فرمايې (رَبِّ اغْفِرْ لِقَوْمِيْ فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ) اې زماپالونکی خدايه ﷻ ته زماقوم ته ښښنه وکوی ځکه دوئ نه پوهيږی

(صحيح مسلم غزوه احد جلد٢، صفحه ١٠٨) دشفقت اومهربانی اوډيری نرمی په وجه يې وفرمايل (فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ)يعنی دوئ نه پوهيږی ناخبره دی اوداسې يې ونه فرمايل (فَإِنَّهُمْ يَجْهَلُوْنَ) يعنی دوئ جاهلان دی ځکه دښکاره معجزوله ليدلو وروسته ناپوهی اوناخبری عذر نه سی کيدای مګررسول الله ﷺ دډير شفقت اوډيری مهربانی دارحم الراحمين اواجود الاجودين اواکرم الاکرمين په دربارکې دناخبری په صورت کې ددوئ له طرف عذر وړاندی کړ چې کيدای سی دالله ﷻ رحمت دوئ دکفراوشرک له کندو څخه راوباسی اودايمان اواسلام دارالسلام اودار الامان ته يې داخل کړی اوداخلاص اواحسان په خاصو شرابو څيښلوسره دخپلی مينی په نشه کې داسې بيهوښه کړی چې ددنيارذالت اوسپکوالی اودآخرت عزت اوشرافت ورته ښکاره سی اودکفراودشرک له بنديخانی څخه په راوتلوسره دتل لپاره دايمان اواسلام اخلاص او احسان حرم آمن ته داخل اوهمدلته دتل لپاره پاته سی اودتل لپاره همدلته ميشت سی .

سيف لودين كتابتون

ف: ترکومه وخته چی د کافرخاتمه پر کفر نه وی سوی ترهغه وخته پوری د کافرلپاره دبخښنی دعاء په دې معنی صحیح دی چی الله عزوجل دې هغه ته له کفراوشرک څخه دتبی اودایمان راوړلوتوفیق ورکړی ددې لپاره چی هغه دالله ﷻ دبښنی وړوګرزی اوکله چی د کافرخاتمه پرکفروسی نودهغه کافرلپاره دبښنی هیڅ دعانه دی روالکه چی الله عزوجل فرمایې
مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ (۱۱۳) سورة التوبه)
دپېغمبر ﷺ اومؤمنانولپاره داندی روا چی مشرکینوته دبښنی دعاوکوی که څه هم ددوئ خپلوان وی وروسته تردی چی دوئ ته ښکاره سی چی دوئ دوزخیان دی ، کافران وو)

داحدپه جنګ کې دقتادة بن النعمان ؓ سترګه دباندی راووتله اورسول الله ﷺ هغه بیرته پرهغه ځای کېښوده ترمخکې حالت ډېره ښه اوښائسته سوه

قتاده بن النعمان ؓ وایې زه داحدپه ورځ درسول الله ﷺ مخ ته ودریدم اوخپل مخ مې ددښمنانوته وخواته وګرزوی ددې لپاره چی ددښمنانوغشی زماپرمخ ولګیږی او درسول الله ﷺ مخ مبارک خوندی پاته سی ددښمنانوآخری غشی زماپه سترګه باندی داسی ولګیدی چی دسترګی سپین می دباندی راووتل سترګه ماپه خپل لاس کې راواخیسته او درسول الله ﷺ وخواته مې مخ واړوی رسول الله ﷺ چی کله زماسترګه ولید له ډېر خفه سو اوزمالپاره یې دعاوکړه چی اې الله ﷻ لکه څنګه چی قتاده ستادنبی ﷺ دمخ ساتنه وکړ ه دغه رنګه ته دده دمخ ساتنه وکوی اودده راوتلی سترګه تردې بلی سترګی هم ډېره ښائسته اوهم ښه لیدونکی کی رسول الله ﷺ هغه سترګه په خپل ځای کې کېښوده سمدستی زما سترګه روغه رمټه سوه بلکې ترله مخه یې ښه دیدشروع کي
(رواه طبرانی وابونعیم والدارقطنی بنحوه (۱)
په یو بل روایت کې راغلی دی چی قتاده ؓ خپله سترګه په لاس کې راواخیسته اودرسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو رسول الله ﷺ وفرمایل که ته صبروکوی نوستا لپاره جنت دی اوکه غواړی نوپه هغه زاړه ځای به سترګه درته کېږدم اوستالپاره به دعا وکوم قتاده ؓ ووېیل یارسو ل الله ﷺ زمایوه میرمن ده دهغې له ماسره ډېر مینه ده له ماسره داویره سته چی که زه بی سترګی پاته سم نوهسی نه چی داله ما نفرت وکوی ، رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک دده سترګه په خپل ځای کی کېښوده اوداد عاء یې وکړه (اللهم اعطه جمالاً) اې الله ﷻ ده ته ښائست ورکی (۲)

---

(۱) الاصابه جلد ۳ /ص /۲۲۵)
(۲) زرقانی جلد ۲ /ص /۴۲)

سیف لودین کتابتون

په احدکې د رسول الله ﷺ د شهادت د خبر خپریدل !

کله چې دا خبر خپور سو چې رسول الله ﷺ شهید سو نو یو شمیر مسلمانانو همت و بایلی او داسې یې وویل چې رسول الله ﷺ شهید سو نو رنو جنګ څه کوو په دې وخت کې د انس بن مالک ﷺ آکا انس بن نضر ﷺ داسې وویل اې خلکو که محمد ﷺ شهید سوی دی نو د محمد ﷺ رب ﷻ خو ژوندی دی هغه خو نه مری د کوم هدف لپاره چې هغه جهاد کوی د هغه هدف لپاره تاسو هم جهاد وکوی او پر هغه باندی مړه سی او د رسول الله ﷺ له شهادته وروسته په ژوند کې څه خوند پاته دی دا یې وویل او د دښمنانو په فوځ ننوتی او وجنګیدی ترڅو چې شهید سو رضی الله تعالی عنه (رواه ابن اسحاق والطبرانی، زرقانی جلد ۲، صفحه ۲۴) .

په احدکې د حضرت انس بن النضر ﷺ د شهادت قصه

په صحیح بخاری کې له انس ﷺ څخه روایت دی چې زما آکا انس بن نضر ﷺ د بدر په غزاکې د برخې نه اخیستو له کبله ډیر خفه وو یو ځل یې رسول الله ﷺ ته وویل یا رسول الله ﷺ افسوس چې زه د مشرکینو په مقابل کې د اسلام په لومړی جګړه کې شریک نه سوم که الله ﷻ ماته په راتلونکې جګړه کې د ګډون توان راکړ نو ما به ووینی چې زه د الله ﷻ په لاره کې څنګه جهاد کوم او ځان څنګه ځاروم کله چې د احد په جنګ کې څه خلکو ماته وخوړه او شاته ولاړل نو انس بن نضر ﷺ وویل یا الله ﷻ زه ستا په دربار کې له هغه کاره ښننه غواړم کوم چې دې مسلمانانو وکړ چې د جنګ له میدان لرښاته ولاړل او کوم کار چې مشرکینو وکړ زه له دې برې او بیزاره یم ده توره واخیسته مخ ته روان سو سعد بن معاذ ﷺ په مخه ورغلی انس بن نضر ﷺ ورته وویل (این یاسعد (۱) انی اجد ریح الجنة دون الاحد) اې سعد ﷺ چیری ځې زه خو ربښتیا هم د جنت خوشبویی د احد له خوا محسوسوم دا الفاظ د کتاب المغازی په روایت کې دی او د کتاب الجهاد په روایت کې داسې الفاظ راغلی دی (یاسعد بن معاذ الجنة ورب (۲) النضر انی اجد ریحها دون احد) اې سعد ﷺ دا دی جنت قسم د نضر ﷺ په پالونکی ﷻ باندی ربښتیا هم د احد له خوا پر ما د جنت بوی راځی .

حافظ ابن قیم رحمة الله علیه وایې چې الله ﷻ په یو شمیر وختو کې خپلو خاصو بندګانو ته په روحانی ډول نه بلکې په حسی ډول په دنیا کې د جنت خوشبوئی ښکاره کوی لکه څنګه چې دوئ په پوزه سره ګلاب او چنبیلی بویه وی د غه شان دوئ په دنیا کې کله کله د الله ﷻ

---

(۱) دیا کلمه د عرب په خبرو کې دلیرې او ازکونکې لپاره استعمالیږی کیدای سی د انس ﷺ له یاسعد څخه مراد داوی چې ته دې ترسعادت وړاندی یې او د غه رنګه د این څخه دستر ګو لیدلی ځای نه دی مراد بلکې مکان په معنی د مرتبې مراد دی (والله اعلم).

(۲) نضر ﷺ د انس ﷺ د پلار نوم دی نضر په عربی کې تراوتازه او روښان ته وایې کیدای سی انس بن نضر ﷺ د جنت روښانتیا او تازه والی په خپ[illegible] ترګو لیدلی وی ځکه یې په رب النضر سره قسم وکوی (والله اعلم)

سیف لودین کتابتون

31
31

په فضل سره دجنت خوشبويي محسوسوی اودجنت خوشبويې ترپنځه زره ميله پورې رسيږي کيدای سی انس بن نضر رضی الله عنه ته په حسی ډول دجنت خوشبويې ورښودله سوی وی کذافی حاوی الارواح الی بلاد الافراح جلد۱، صفحه ۲۵۰)

کوم خلک چی ددنياپه نشه مست وی اودآخرت څخه زکام وی دهغوئ نه منل داعتبار وړنه دی داسی خلک (از خواص اولیاء بیگانه اند) مصداق دی ديوه ناروغ زکامی دګلاب اوچنبيلی دبوئ نه محسوسول ددې دليل نه سی کيدای چی روغ جوړ دماغ لرونکي هم دګلاب اوچنبيلی دګل بوئ نه سی محسوسولای .(متل : ستاپه نه ديدکابل نه نيستی کيږی)

لنډه داچی انس بن نضر رضی الله عنه (واهاً الريح الجنة اجده دون احد) واه واه دجنت خوشبوئی داحدله خوارائحی دايې ويل اومخکې سو اوله دښمنانوسره ښه وجنګيدی ترڅو چی شهيدسو دده پر بدن باندی دغشو اوتوروتراتيا ۸۰ زيات زخمونه وو اودآيت دانس بن نضر رضی الله عنه په باره کې نازل سو (مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ(۲۳) سورة الاحزاب) دمسلمانانو څخه يوشميرداسی نارينه دی چی دوئ له الله ﷻ سره کومه ژمنه کړی وه هغه يې رښتياکړه ..

صدق جان دادن بود ہمین سابقوا................از نبی برخوان رجالٌ صدقوا

امام بخاری رحمة الله عليه داحديث په صحيح البخاری کې درې ځايه ذکرکړی دی ۱کتاب الجهاد جلد ۱ صفحه ۳۹۲، اوکتاب المغازی صفحه ۵۷۹ ،اوکتاب التفسير صفحه ۷۰۵مختصراً

دعارف رومی په خبره دانس بن نضر رضی الله عنه حالت داسی وو

وقت آن آمد کہ من عریان شوم...................جسم بگزارم سراسر جان شوم

بوئی جانان سوئی جانم می رسد...................بوئی یار مہربانم می رسد

دمسلمانانو دغم اوخفګان اونا ارامی لوی سبب درسول الله صلی الله عليه وسلم الف الف تحيات دشهادت خبروو لومړی کعب بن مالک رضی الله عنه رسول الله ﷺ وليدی اووې پيژندی رسول الله ﷺ خوخول پرسرکړی وو مخ يې پټ وو کعب رضی الله عنه وايې ماله خول څخه دهغه مبارک ﷺ ځليدونکی سترګی وليدی اوومې پيژندی سمدستی می په لوړآواز نعره وکړه اې مسلمانانو خوشاله سی دادی رسول الله ﷺ رسول الله ﷺ په لاس اشاره راته وکړه چی پټه خوله سه که څه هم ده له دويم ځلی ويناڅخه منع کړم مګر دزړه اوسرغوږونه ټول دهغه ﷺ خبرواوريدوته متوجه وو په دې وجه دکعب رضی الله عنه دناری په اوريدوسره مشرکين په منډه راغلواو درسول الله ﷺ پرشاوخوراوګرزيدل کعب رضی الله عنه فرمايې تردی وروسته رسول الله ﷺ خپله زغره ماته راکړه اوزمازغره ده مبارک ﷺ واغوستله دښمنانودرسول الله ﷺ په خيال سره په مابانذی غشی واورول زه ترشله ځايه ډير ټپی سوم (رواه الطبرانی ورجاله ثقات)

سیف لودین کتابتون

کله چې څه مسلمانان درسول الله ﷺ سره یوځای سو نودغره ولوری ته روان سو ابوبکرصدیق رضی الله عنه اوعمرفاروق رضی الله عنه اوعلي رضی الله عنه اوطلحه رضی الله عنه اوحارث رضی الله عنه اوداسی نورصحابه رضی الله عنهم له رسول الله ﷺ سره ملگری وو کله چې وغره ته ختی نورسول الله ﷺ دکمزوری اوټپی کیدو اوده دووزغرودډروندوالی له کبله نه سو ختلای نوځکه طلحه رضی الله عنه کښیناستی اوړه یې ورکړه رسول الله ﷺ دهغه پراوږه باندی وغره ته پورته سو

په اُحدکې مشرک اُبیّ بن خلف درسول الله ﷺ په لاس ووژل سو !

کله چې دوئ غره ته پورته سو ابی بن خلف دجهنم تږی پرآس سپور راورسیدی پرهغه آس چې ابی په دې نیت اوربشی ورکړی وی چې پر دې به سپریږم او محمد ﷺ به قتل کوم.
رسول الله ﷺ چې کله دهغه په اراده خبرسو نوپه دغه وخت کې یې وفرمایل چې ان شاء الله زه به هغه قتل کوم . کله چې هغه درسول الله ﷺ وخوا ته را وړاندی سو صحابه رضی الله عنهم اجازه وغوښته چې موږ به هغه قتل کړو نبی کریم ﷺ ابی ته وویل راوړندی سه ښه رانژدی سه کله چې هغه ښه رانژدی سو نونبی کریم ﷺ له حارث بن صمه رضی الله عنه څخه نیزه واخیسته اوهغه یې په غاړه کې په وویشتی هغه لویه چیغه وکړه اوپه منډو منډو بیرته ولاړی اوداناری یې وهلی اې خلکو قسم په الله ﷻ زه محمد ﷺ ووژلم .
کله چې لښکرته ورسیدی نوخلکوورته وویل چې یاره وشرمیږه داخوییخی معمولی ټپ دی څه داسی ژور ټپ خونه دی چې ددې ټپ له لاسه ته دومره نعری وهی ابی بن خلف وویل تاسوپه دې خبریاست چې محمد ﷺ په مکه کې ماته ویلی وو چې زه به تاقتل کوم ددې زخم تکلیف ماته معلوم دی چې څومره دی قسم په الله ﷻ که داز خم دحجاز پرټولو اوسیدونکو باندی وویشل سی نودټولودمرگ لپاره بس دی په دغسی چیغواوناروسره سرف نامی ځای ته ورسیدی اوهم هلته مردار سو

علي رضی الله عنه اوفاطمه رضی الله عنها درسول الله صلی الله علیه وسلم زخمونه مینځي

کله چې رسول الله ﷺ وغره ته وختی نورجنگ پای ته ورسیدی دوئ هلته کښیناستل علي کرم الله وجهه اوبه راوړی اودرسول الله ﷺ دمخ مبارک څخه یې وینی پاکولی اوڅه اوبه یې په سرواچولی وروسته رسول الله ﷺ اودس وکوی اوپه ناسته یې دماپښین لمونځ ورکړ صحابه رضی الله عنهم هم په ناسته اقتداء ورپسی وکړه ..

په احدکې قریشو شهیدان صحابه کرام رضی الله عنهم مُثله کړه !

مشرکینو دشهیدانو رضی الله عنهم دبدن په مثله کولو پیل وکړ یعنی پوزه غوږونه یې پریکړل او نسونه یې ورڅیری کړه اواعضاء تناسل یې پریکول ښځوهم له نارینه ووسره په دې کارکې برخه واخیسته ، هنده چې ددې پلار عتبه دبدرپه جنگ کې دحمزه رضی الله عنه په لاس وژل سوی وو هغې دحمزه رضی الله عنه مثله وکړه نس یې ورڅیری کې اوینه راوایسته اوېوه ټوټه یې

سیف لودین کتابتون

پريکړه مګر ترستونی یې تیره نه سوه اوپه دې خوشالۍ کې یې وحشی ته خپله ګېڼه ورکړه اودکوموشهیدانوپوزه اوغوږونه چی دوئ غوڅ کړه دې له هغوامیل جوړکی غاړی ته یې واچوی (۱)

دابوسفیان پوښتنی او دعمرفاروق رضی الله تعالی عنه ځوابونه!

قریشوچی کله دبیرته تلواراده وکړه نوابوسفیان وغره ته راوختی دا آواز یې وکی (اَفِی القوم محمدﷺ) آیاپه تاسوکې محمدﷺ ژوندی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل هیڅوک دې ځواب نه ورکوی دغه رنګه ابوسفیان درې ځله اوازوکی مګر چاځواب ورنه کړ تردې وروسته ابوسفیان وویل (افی القوم ابن ابی قحافه) آیاپه تاسوکې دقحافه زوی یعنی ابوبکرصدیق رضی الله عنه ژوندی دی رسول الله ﷺ وفرمایل هیڅوک ځواب مه ورکوی، درې ځله یې داخبره تکرارکړه مګر ځواب یې نه واوریدی دریم ځل یې اواز وکی (افی القوم بن الخطاب) آیاپه تاسوکې عمربن خطاب رضی الله عنه سته داالفاظ یې هم درې ځله ولوستل مګر کله چی هیچاځواب ورنه کړنوخپلوملګروته یې په خوشالۍ وویل (اماهؤلاء فقدقتلوا فلوکانواحیاء لاجابوا (۲) دادرې خووژل سوی دی که ژوندی وای نوهرومروبه یې ځواب راکړی وو، دعمرفاروق رضی الله عنه نورزغم پای ته ورسیدی اوداسی یې ورته وویل (کذبت والله یاعدوالله ابقی الله علیک مایحزنک) اې دالله جل جلاله دښمنه قسم په الله جل جلاله تاییخی دروغ وویل ستادغم اوخفګان دپاره لاتراوسه څوک شته.

تردې وروسته ابوسفیان دوطن اوقوم اودیوه بت په نامه نعره وکړه داسی یې وویل:

(اُعلُ هُبَل اُعلُ هُبَلُ (۳) اې هبل ته دې لوړی یې اې هبل ستادین دې لوړی وی،

رسول الله ﷺ عمرفاروق رضی الله عنه ته وفرمایل دده په ځواب کې داسی ورته ووایه:

(اَللهُ اَعلٰی وَاَجَلُّ) الله جل جلاله ترټولولوی اولوړ ذات دی.

ابوسفیان بیا وویل:

(ان لنا العزی ولاعزی لکم) زموږخوعزی سته ستاسوعزّی نسته یعنی موږته عزت حاصل سو

---

(۱) البدایه والنهایه جلد ۲ /ص/ ۳۵)

(۲) دصحیح بخاری په کتاب الجهادکې یواځې دالفاظ راغلی دی (اماهؤلاء فقدقتلوا فلوکانوا لفظ نسته دکتاب المغازی په روایت کې داسی الفاظ دی (ان هؤلاء قتلوا فلوکانوا احیاء لاجابوا) دې ناکاره بنده ددواړه روایاتوالفاظ رایوځای کړه اودغه رنګه نبی کریم ﷺ اوابوبکرصدیق رضی الله عنه اوعمرفاروق رضی الله عنه ته درې ځله ناره کول هم دکتاب الجهادپه روایت کې راغلی دی دکتاب المغازی په روایت کې یواځی یوځل ناره کول یادسوی دی، وعدم الذکرلایدل علی ذکرالعدم فافهم)

(۳) دکتاب الجهادپه روایت کې (اعل هبل اعل هبل) دوه ځلی راغلی دی اودکتاب المغازی په روایت کې یواځی یوځل ویل یادسوی دی)

رسول الله ﷺ عمرفاروق رضی الله عنه ته وفرمایل داسی ځواب ورکړه:

سيف لودين كتابتون

(الله مولانا ولا مولی لکم) الله ﷻ زموږ پالونکي او مرستندوی دی او ستاسو مرستندوی نسته (فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ) يعنی عزت يوائحی دالله ﷻ په واک او اختيار کې دی دعزی په واک کې هيڅ هم نسته ځکه هغه دخپل ځان واک هم نه لری ..

ابوسفيان وويل (يَوم بيوم بدر والحرب سِجَالٌ) داورځ دبدر دروځی بدله وه نو موږ او تاسو سره برابر سو او جنګ دسلواغی په شان کله کښته او کله پورته وی

له ابن عباس ﷺ روايت سوی دی چی عمر فاروق ﷺ ددې خبری په ځواب کې ورته وويل (لاسواء قتلانا فی الجنة وقتلاكم فی النار (١) نه موږ او تاسو هيڅکله سره برابر نه يو ځکه زموږ وژل سوی په جنت کې دی او ستاسو وژل سوی په دوزخ کی دی .

او دابوسفيان داخبره چی الحرب سجالٌ رښتيا وه نو ځکه دهغې ځواب ورنه کړل سو او د الله ﷻ ارشاد (وَتِلْكَ الايَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاء وَاللهُ لاَ يُحِبُّ الظَّالِمِينَ (١٤٠ آيت سورة آل عمران) ددې تأيد کوی .

وروسته ابوسفيان عمر ﷺ ته وويل (هَلُمَّ الَیَّ ياعمر) اې عمر ﷺ زما خواته را نژدی سه !

رسول الله ﷺ عمر فاروق ﷺ ته وفرمايل چی ته ورسه چی څه وايې عمر فاروق ﷺ هم هغه ته نژدی ورغلی .

ابوسفيان ورته وويل : (انشدک الله ياعمر اقتلنا محمدا صلی الله عليه وسلم)

اې عمر ﷺ تاته په الله ﷻ قسم درکوم رښتيا ووايه چی موږ محمد ﷺ وژلی دی .

عمر فاروق رضی الله عنه په ځواب کې ورته وويل (اللهم لا وانه ليسمع کلامک الآن)

هيڅکله نه قسم په الله ﷻ که مو وژلی وی او رسول الله ﷺ همدا اوس ستا خبری اوری

ابوسفيان وويل : (انت عندی اصدق من ابن قمية وابر)

ته زما په نظر تر ابن قمية ډير رښتينی او نيک يې .

وروسته ابوسفيان وويل : (انه قد كان فی قتلاکم مثله والله مارضيت ولا نهيت ولا امرت)

زموږ د خلکو له لاسه ستاسو دوژل سويو کسانو غړی پری سوی دی قسم په الله ﷻ زه په دې کار خوښ نه يم او نه مې منع کړی او نه مې امر کړی دی .

او د تللو په وخت کې يې داوعده وکوله (موعدکم بدر للعام القابل)

زموږ او ستاسو به راتلونکی کال په بدر کې دجنګ وعده وی سره .

رسول الله ﷺ ويوه صحابی ﷺ ته وفرمايل چی ورته ووايه

(١) زرقانی جلد ٢ / ص / ٣٧، فتح الباری جلد ٧ / ص / ٢٧٢)

سیف لودین کتابتون

(نعم هو بيننا وبينك موعدان شاء الله تعالى)(١) سمه دی زموږ او ستا ترمینځ همدا وعده دی که دلوی خدای ﷻ خوښه وه (تاریخ طبری جلد ٣، صفحه ٢٤ ابن هشام صفحه ٨٩)
دمشرکینو له ستنیدو وروسته دمسلمانانو ښځي دحال معلومولو په نیت له مدینی ښځه راوتلی وی سیدة النساء فاطمة الزهراء رضی الله تعالی عنها راغله اوويې ليدل چی ددې دپلار مبارک ﷺ له مبارک مخ څخه وينه روانه ده علی ﷜ په ډال کې اوبه راوړی اوفاطمی ﷞ به پريولی مگر وينه جاری وه نه دريدله اونوره هم زياتيږی بيايې ديو ټوکر ټوټه وسوځوله اودهغه ايره يې په ټپ باندی کیښوده وينه بنده سوه (رواه البخاری والطبرانی عن سهیل بن سعد ﷜ (٢)

فوائد:

(١) له دې حديث څخه معلومه سوه چی دناروغی له کبله دوادرمل کول روادی
(٢) بل داچی علاج کول دتوکل ضد نه دی
(٣) همدغه رنگه انبياء کرام علیهم السلام ته هم بدنی ناروغی اوستونزی تکليفونه رسيږی ددې لپاره چی ددوئ درجی لوړی سی اوددوئ منونکی ودوئ ته په کتلوسره دصبر اوزغم دمنلو اوسرتيټونی سبق زده کړی دارنگه دنبی ﷺ انسانی نيمگړتياوی اودانسانيت لوازم ته په کتلوسره داوپيژنی چی انبياء علیهم السلام دالله ﷻ پاک اوخاص بند گان دی معاذالله خدايان نه دی ددوئ معجزی اوعلامی دنبوت اورسالت ښکاره دلائل دی دنصارااو په څير په فتنه کې ونه لويږی چی دوئ خدايان وگڼی معاذالله.
اَشْهَدُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَشَرِيْکَ لَهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ وَاَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَاتِهِ وَبَارِكْ وَسَلِّمْ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا كَثِيْرًا ط
(٤) په دې پيښه سره داخبره هم ښه ښکاره سوه چی نبی کريم ﷺ څخه وروسته درجه اومرتبه دحضرت ابوبکرصديق ﷜ اوبيا دحضرت عمرفاروق ﷜ ده ځکه داترتيب دومره ښکاره اوروښانه وو چی کفارهم په دی پوهيدل چی تررسول الله ﷺ وروسته دابوبکر صديق ﷜ اوبيادعمرفاروق ﷜ ځای دی لنډه داچی شيخين رضی الله عنهما ابوبکرصديق ﷜ اوعمرفاروق ﷜ دغوره والی ترتيب مسئله کفاروته هم معلومه وه دوئ درسول الله ﷺ په دربارکې په سترگوليدی وو چی لومړئ ځای دابوبکرصديق ﷜ دی اودويم ځای دعمرفاروق ﷜ اودوئ دواړه درسول الله ﷺ ښه تدبيرجوړونکی وزيران دی

---

(١) دان شاء الله لفظ علامه زرقانی رحمه الله نقل کړی دی دطبری اوابن هشام په روايت کې نسته)
(٢) زرقانی جلد ٢ /ص /٤٩)
يادداشت: درنولوستونکو عاجزبنده حمدالله ستاسو ددعاپه هيله (حمدالله کال ١٤٣٥ هجری سپوږمیز)

دسعدبن ربیع رضی الله تعالی عنه دشهادت بیان

دقریشو ترستنیدو وروسته رسول الله ﷺ زیدبن ثابت (۱) ﷺ ته حکم وکړ چې سعدبن ربیع انصاری ﷺ وګوره چې چیری دی (ان رأیته فاقرأه منی السلام وقل له یقول لک رسول الله ﷺ کیف تجدک) که دې هغه پیدا کې نوزماله لوری سلام ورته ووایه اودا ورته ووایه چې رسول الله ﷺ داپوښتنه کوی چې ته اوس په دې وخت کې ځان څنګه بولې،،
زیدبن ثابت ﷺ فرمایې چې زه په تلوتلوکې سعدبن ربیع ﷺ ته ورسیدم هغه مې پیداکې هغه تردغه وخت لاژوندې وو اودژوند آخرې سلګۍ یې وې پربدن یې دغشواوتورو اویا ۷۰ ټپونه وو مادرسول الله ﷺ پیغام وروړسوی،
سعدبن ربیع ﷺ په ځواب کې داسې وویل (علی رسول الله السلام وعلیک السلام قل له یارسول الله انی اجدریح الجنة وقل لقومی الانصار لاعذرلکم عندالله ان یخلص الی رسول الله صلی الله علیه وسلم شفر(۱) یطرف وفاضت نفسه رحمه الله) په رسول الله ﷺ دې سلام اوپرتادې هم وې رسول الله ﷺ ته زمادا پیغام ورسوه چې یارسول الله ﷺ زه همدااوس دجنت خوشبویي احساسوم اوزماقوم انصاروﷺ ته ووایه چې که رسول الله ﷺ ته څه تکلیف ورسیدی په داسې حال کې چې ستاسو یوتن هم ژوندې وې نوپوه سې چې دالله ﷻ په نزدبه ستاسو هیڅ عذرونه منل سی .داپیغام یې پرینبودی اوروح یې لوړپورته سو رحمه الله ورضی الله تعالی عنه ، حاکم وایې ددې حدیث سندحسن دی اوحافظ ذهبی هم په تلخیص کې ودې ته صحی ویلی دی
په یوبل روایت کې راغلی دی چې سعد ﷺ زیدبن ثابت ﷺ ته داسې وویل :
اخبررسول الله صلی الله علیه وسلم انی فی الاموات واقرأه السلام وقل له یقول جزاک الله عنا وعن جمیع الامة خیرا .. مستدرک صفحه ۲۰۱ ترجمه سعدبن ربیع ﷺ ۲) رسول الله ﷺ ته ووایه چې زه اوس ځم اوزماسلام ورته اوترسلام وروسته داورته ووایه چې سعدویل چې یارسول الله ﷺ الله دې تاته زموږ اودټول امت له لوری دخیربدله درکړې چې موږته دې حق لاره وښودله..
دابن عبدالبرپه روایت کې دابی بن کعب ﷺ څخه روایت وایې کله چې زه بیرته راغلم اورسول الله ﷺ ته مې دسعد ﷺ خبره ورسوله رسول الله ﷺ چې داخبره واوریده وې فرمایل رحمه الله نصح الله ولرسوله حیا ومیتا ، استیعاب للحافظ ابن عبدالبر جلد ۲، صفحه ۳۵ حاشیه اصابه)
الله ﷻ دې په هغه رحم وکوی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ خیرغوښتونکی او وفادار وو په ژوندکې هم اودمرګ په وخت کې هم

---

(۱) په یوه روایت کې راغلی دی (وفیکم عین تطرف) (زرقانی جلد ۲ /ص /۴۹)

(۲) دادحاکم روایت دی چې زیدبن ثابت ﷺ یې ورولیږی اودحافظ ابن عبدالبرپه روایت کې راغلی دی چې ابی بن کعب ﷺ یې ولیږی اودواقدی په روایت کې راغلی دی چې محمدبن مسلمة ﷺ یې ولیږی ، کیدای سی چې درې واړه یوپل بل پسې لیږلی وی یایې درې واړه په یوه ځای لیږلی وی والله اعلم (زرقانی جلد ۲ /ص /۴۹)

سیف لودین کتابتون

دسیدالشهداء حضرت حمزه رضي الله تعالي عنه دبدن لټون

رسول الله صلی الله علیه وسلم دحمزه ﷺ دبدن په لټون پسی ووتی دکندی په نس کې دحمزه ﷺ بدن پیداکی پوزه اوغوږونه یې پریکړل سوی وو اونس اوسینه یې څیری سوی وو ، ددې زړه آزارونکی اوغمجن حالت په لیدوسره درسول الله ﷺ زړه بی اختیاره ډک سو اوداسی یې وفرمایل : په تاباندی دی دالله ﷻ مهربانی وی ترڅوپوری چی ماته معلوم وی رښتیاهم ته ډیر غوره اوصله رحمی کونکی وی که دصفیه دغم اوخفګان خیال نه وای راسره نومابه ته پرهمدغه حال پری ایښی وی چی درندګان اومرغان دې وخوری اوبیاد قیامت په ورځ ته دهغوئ له نس څخه راپورته سوی وی اوپه هغه ځای کې په ولاړه داوفرمایل چی قسم په الله ﷻ که الله تعالی ماته په کافرانو باندی بری راکړ نوستاپه بدل کې به داویا ۷۰ کافرانودبدن غړی پریکوم رسول الله ﷺ لادله همدې ځای څخه نه ووتللی چی داآیت شریف نازل سو : وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِينَ (۱۲۶) وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ (۱۲۷) إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ (۱۲۸) سورة النحل)

ژباړه : که تاسوبدله اخلی نودومره بدله واخلی څومره چی تاسوته تکلیف رسیدلی وی اوکه تاسوصبرکوي نورښتیاهم داغوره دی دصابرانولپاره اوته صبرکوه ستاصبرکول خاص دالله عزوجل په مرسته اوتوفیق سره دی اوپه دې خلکو مه غمجن کیږه اومه ددوئ په چلوزړه تنګوه رښتیاهم الله تعالی دصبرکونکو اونیکی کونکوسره دی .

رسول الله ﷺ صبروکی اودقسم کفاره یې ورکړه اوخپله اراده یې بیرته بدله کړه (۱)

دجابر ﷺ څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ چی کله حمزه ﷺ ولیدی وې ژړل اوداسی یې وفرمایل (سیّدالشهداء عندالله یوم القیامة)حمزه ﷺبه د قیامت په ورځ دالله ﷻ په نزددټولوشهیدانوسرداروی .. حاکم فرمایې ددې حدیث سندحسن دی اوحافظ ذهبی هم ودې حدیث ته صحیح ویلی دی (۲) په معجم طبرانی کی له علی ﷺ څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل(سیّدالشهداء حمزة بن عبدالمطلب) دټولوشهیدانوسردار به حمزه بن عبدالمطلب ﷺ وی (۳) له دې وجی حمزه ﷺ په سیدالشهداء لقب سره مشهورسو

---

(۱)مستدرک جلد ۳ /ص / ۱۹۷)
(۲) مستدرک جلد ۳ /ص / ۱۹۹ قال العلامة الزرقانی هذاالحدیث رواه الحاکم والبیهقی و البزار والطبرانی وقال الحافظ فی الفتح باسنادفیه ضعف آه جلد ۲ /ص /۵۲ زرقانی اقول لکن قال الحافظ بعد ماذکرللحدیث طرق عدیدة هذه طرق یقوی بعضناآه فتح الباری جلد ۷ /ص / ۲۸۲) دصحیح بخاری په ډیرونسخوکې باب قتل حمزه بن عبدالمطلب دی مګر دنسفی په نسخه کې حمزه سیدالشهداء ﷺ دی غالبًا امام بخاری په ترجمة الباب کې دې حدیث ته اشاره کړی وی)
(۳) فتح الباری جلد ۷ /ص /۲۸۲)

سیف لودین کتابتون

دعبدالله بن جحش رضی الله تعالی عنه دشهادت یوه عجیبه قصه

داحد په غزاکې عبدالله بن جحش رضی الله عنه هم شهید سو په معجم طبرانی او دلائل ابی نعیم کې په جید سند سره له سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه څخه روایت سوی دی سعد رضی الله عنه وایې چې داحد په ورځ دجنګ تر پیل کیدو مخکې عبدالله بن جحش رضی الله عنه راغلی او زه یې یو ه لوری ته بوتلم اوراته وې ویل چې راسه ما او تا دواړه بیل کښینو او له الله ﷻ څخه دعاوغواړو او یو دبل پر دعا آمین وایو . سعد رضی الله عنه وایې موږ دواړه په یوه ګوښه کې له ټولو بیل یوې خواته کښیناستو لومړی مادعاوغوښتنه او ده آمین پروېل ماویل : اې الله ﷻ ما ننن له داسی دښمن سره مخامخ کې چې ډیر دلاور، اوغیرتمند، اوغښتلی، اوزورور ، اوغضبناک وی کله چې زه له هغه سره جګړه کوم هغه له ماسره جګړه وکوی او تر جګړې وروسته اې الله ﷻ ما ته پر هغه باندی بری رانصیب کی ترڅو چې زه هغه دښمن قتل کړم اودهغه وسله او توکی غنیمت واخلم .

عبدالله بن جحش رضی الله عنه آمین وایو او وروسته عبدالله بن جحش رضی الله عنه داسی دعاوغوښتله یا الله ﷻ ما ننن له داسی دښمن سره مخامخ کې چې ډیر سخت ، زورور ، غضبناک وی یوائې ستادپاره زه له هغه سره وجنګیږم او هغه له ماسره وجنګیږی په پای کې هغه ماشهید کی اوزماپوزه اوغوږونه غوڅ کی، کله چې زه تاته درشم اې الله ﷻ ته پوښتنه راڅخه وکوی چې اې عبدالله داستاپوزه اوغوږونه چیری پریکړل سو نوزه درته ووایم چې اې الله ﷻ ستا او ستادپیغمبر ﷺ په لاره کې او ته په همدغه وخت کې راته ووایې : تا ربښتیا وویل .. سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه وایې چې دعبدالله رضی الله عنه دعاء زماتردعاډیره ښه وه دجګړی په ماښام ماعبدالله بن جحش رضی الله عنه ولیدی چې دهغه پوزه غوږونه غوڅ سوی وو (۱)

سعد رضی الله عنه فرمایې الله ﷻ زمادعاء هم قبوله سوه ماهم یو ډیر سخت کافر ووژی اودهغه وسله اوتوکي مې غنیمت ونیول (۱)

له سعیدبن مسیب رضی الله عنه څخه روایت دی چې عبدالله بن جحش رضی الله عنه داسی دعاء وغوښتله :

اللهم انی اقسم علیک ان القی العدو فیقتلونی ثم یبقروا بطنی ویجدعوا انفی واذنی ثم تسالنی بم ذلک فاقول فیک) اې الله ﷻ زه ستاپه ذات قسم اخلم چې زه ستادښمنانو مقابله وکوم او بیاهغه ماووژنی اوزمانس څیری کی اوزماپوزه اوغوږونه پریکی اوبیاته زماڅخه پوښتنه وکوی چې داولی داسی وسو نوزه درته ووایم چې اې الله ﷻ دایوائې ستادپاره سعیدبن مسیب رضی الله عنه فرمایې چې زه له الله ﷻ څخه امیدلرم لکه څنګه چې الله تعالی په هغه ځانګړی ډول سره دشهادت په باره کې دده دعاء قبوله کړه دغه شان به الله عزوجل هغه بله

(۱) زرقانی جلد ۲ /ص /۵۱) ـــــ (۲) روض الانف جلد ۲ /ص /۱۴۳) ـــــ (۳) الاصابه جلد ۲ /ص /۲۸۷)

سیف لودین کتابتون

دعاء هم خامخا قبوله کړې وې یعنی له شهادت وروسته به یې له هغه څخه سوال کړې وې او هغه به دغه ځواب ورکړې وې..حاکم فرمایې که دا حدیث مرسل نه وې نو د شیخین په شرط به صحیح وې حافظ ذهبی فرمایې مرسل صحیح (مستدرک جلد ۳، ص/ ۲۰۰)

نو ځکه عبدالله بن جحش ﷺ په مجدّع فی الله لقب سره مشهور سوی دی (یعنی هغه سړی چې د هغه پوزه او غوږونه د خدای ﷻ په لاره کې پرې سوی دی)

د الله ﷻ د محبت کونکو او مخلصو عاشقانو دغه حالت وی چې هغوئ د الله ﷻ په لاره کې روح ورکول ډېره لویه نیک بختي ګڼي دژوند په مقابله کې مرګ دوئ ته ډېر خوندور او خوږ معلومیږي ځکه دوئ مرګ د محبوب حقیقي یعني الله تعالی د ملاقات ذریعه او د دنیا له بندیخانې څخه د آزادیدو او د جنت و باغو ته د رسیدو لاره ګڼي،

(ف) الله تعالی چې کله په ځمکه کې د خلیفه جوړولو اراده وکړه نو ملائکو وویل:

قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ (۳۰) سورة البقرة

آیا ته هغه څوک په ځمکه کې خلیفه جوړوې چې په ځمکه کې فساد خپروي او وینې تویوي سره له دې موږ په هر وخت کې ستا په ستایلو سره ستا پاکي بیانوو

په انسان کې دوه قوتونه دی یو قوه شهوانی دی چې له هغې قوې څخه زنا او نور ګناهونه صادریږي چې د هغه ملائکو په مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا سره بیان کړه او دویم قوت غضبانی دی چې له هغه وژل وهل ډبول وینه تویول داشیان صادریږي چې د هغه تعبیر ملائکو په (وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ) سره وکړ فرشتو د انسان دا کمزوري یادې کړې مګر دا فکر یې ونه کې چې دغه قوت شهوانی چې کله د الله ﷻ په لارکې وی نو د هغه څخه هغه میوې او پایلې ښکاره کیږي چې فرشتي هم هک پک حیرانه پاته کیږي یعنی د الله ﷻ د عشق غلبه او د الله ﷻ د مینې جوش او دغه رنګه کله چې قوت غضبانیه د الله عزوجل په لارکې وکارول سي نو له هغه څخه هم ډېر عجیبه او نالیدلې میوې او پایلې ښکاره کیږي چې د هغو په لیدو سره فرشتي هم حیران پاته کیږي یعنی د الله ﷻ په لاره کې ځان قربانول او د الله ﷻ له دښمنانو سره جهاد کول نشود نصیب دشمن که شود ہلاک تیغت .... سر دوستان سلامت که تو خنجر ازمائی

ملائکه علیهم السلام خوشپه او ورځ د الله تعالی پاکي بیانوی مګر د الله ﷻ په لاره کې د عاشقانه سرقربانولو جذبه په دوئ کې نشته دوئ د دې دولت او نعمت څخه بې برخې دی او بل دا چې د ربښتینې محبوب لپاره سرور کول او د هغه په لاره کې شهادت هغه نعمت دی چې د دې نعمت په ملائکو کې امکان نسته په انسان کې که څه هم د ملائکو په څیر پاکي او خوندي توب نسته مګر تر ګناه وروسته د انسان پښیمانتیا او شرمندګی او ژړا او زاری د انسان درجې دومره لوړوې چې فرشتي هم لاندې پاته کیږي.

سیف لودین کتابتون

له دې کبله د ټولو اهل السنت والجماعة پر دې خبره اتفاق دی چې انبياء او مرسلين علیهم السلام ترمقربو فرشتو غوره او د لوړو درجولرونکي دی او صحابه ﷺ او تابعين او صد يقين او شهداء او صالحين د ځمکی او اسمانو ترنورو فرشتو غوره دی (کذافی البحر الرائق جلد ۱، صفحه ۳۳۳) که مو تفصيل په کار وی هم هلته يې وګوری.

او پاکی مؤمنی ښځی ترحور عين غوره دی، کذافی اليواقيت والجواهر، ۱۲)

دعبدالله بن عمرو بن حرام رضی الله تعالی عنه دشهادت قصه!

دجابر ﷺ پلار عبد الله بن عمرو بن حرام انصاری ﷺ هم په احد کې شهيد سو او کافرانو د هغه د بدن غړی پری کړل جابر ﷺ وايې کله چې د هغه بدن د رسو ل الله ﷺ مخ ته راوړل سو نو ما د خپل پلار له مخ څخه کپن پورته کی چې ويې وينم نو صحابه کرام ﷺ منع کړم ما دويم ځل بيا د هغه د مخ ليدل وغوښتل نو صحابه ﷺ بيا منع کړم مګر رسول الله ﷺ اجازه راته وکوله زما عمه فاطمه بنت عمرو ﷺ چې کله ډير وژړل نو رسول الله ﷺ داسی ورته وفرمايل ته ولی ژاری پر ده باندی خو ملائکو سايه کړی وه ترڅو چې د هغه جنازه پورته کړل سوه (بخاری شريف) (۱) يعنی داځای د غم او افسوس نه دی بلکې دخوشالی دی چې ملائکو ستا په وروربا ندی سيوری کړی دی.

جابر ﷺ فرمايې: چې يوه ورځ رسول الله ﷺ زه وليدم او راته وې ويل اې جابره په تا باندی څه سوی دی زه تاډير غمجن او خفه وينم؟ ما ورته وويل يا رسول الله ﷺ زما پلار د احد په غزاکې شهيد سو او دکورغم او قرضونه يې زما پر اوږو پاته سو. رسو ل الله ﷺ وفرمايل: آيا زه تاته يوزيری نه درکوم ماعرض وکی ولی نه يا رسول الله ﷺ خامخا يې راته ووايه. رسول الله ﷺ وفرمايل له هيڅ سړی سره الله عزوجل مخامخ خبری نه دی کړی مګر د پردی شاته ستا پلار الله عزوجل ژوندی کړ او مخامخ يې له هغه سره خبری وکولی او دايې ورته وفرمايل چې اې زما بنده خپل څه ارمان ماته وړاندی که؟ ستا پلار ورته وويل اې زما رب عزوجل زما ارمان دادی چې بيا ژوندی سم او ستا په لاره کې بيا شهيد سم الله عزوجل ورته وفرمايل دا خو نه سی کيدای ځکه داليکل سوی چې ترمرګ وروسته دويم ځل بيرته تګ نسته (ترمذی شريف کتاب التفسير سوره آل عمران (۲)

داحد ترغزا مخکی عبد الله بن عمر بن حرام ﷺ وايې چې ما مبشر بن عبد المنذر ﷺ په خوب وليدی چې دئ راته وايې اې عبد الله ﷺ ته هم مو ږته ژر راتلونکی يې ما ورته وويل ته چيری يې ده راته وويل په جنت کې کوم ځای چې موږ ه غواړی هلته ګرزو ما ورته وويل آيا ته په بدر کې شهيد نه سوی؟ مبشر وويل هو مګر بيا ژوندی سوم. عبد الله ﷺ وايې ما دا خوب رسول الله ﷺ ته ووايو رسول الله ﷺ وفرمايل اې ابو جابر ﷺ ددې تعبير شهادت دی (۳)

حديث په صحيح بخاری کې ډيرځايونه ذکر سوی دی په کتاب الجنائز صفحه ۱۶۶ او کتاب المغازی صفحه ۵۸۴) ــــــ حافظ عسقلانی په فتح الباری کې فرمايې رواه الترمذی وحسنهُ الحاکم وصححه (فتح الباری جلد ۲ ص ۲۵/ باب تمنی المجاهد يرجع الی الدنيا) ــــــ (۳) زاد المعاد جلد ۲ ص ۹۶)

سیف لودین کتابتون

دعمرو بن الجموح رضي الله تعالي عنه دشهادت بيان

داحدپه غزاکې دعبدالله بن عمروبن حرام ﷺ اخښی عمروبن الجموح ﷺ هم شهیدسو دهغه دشهادت قصه هم ډیره عجیبه ده دعمرو بن الجموح ﷺ پښې لږ کږې وې اوښه پوره ګوډ وو ده څلورزامن درلودل چې په هره غزاکې به له رسول الله ﷺ سره ملګری وو احدته دتګ په ورځ یې دوئ ته وویل چې زه هم له تاسوسره جهادته ځم زامنوورته وویل ته معذوریې الله عزوجل تاته رخصت درکړی دی ته پاته سه مګر عمروبن الجموح ﷺ کله په رخصت باندی عمل کوی دشهادت په مینه کې دومره ناارامه وو چې په همدې ګوډو پښوګوډ ګوډتلی اودرسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ زمازامن ماستاسره له تللوراګرزوی اوزه (والله انی لارجوا ان اطاء بعرجتی هذه فی الجنة) قسم په الله ﷻ زه داهیله لرم چې په دې ګوډه پښه په جنت کې وګرزم ..

رسول الله ﷺ وفرمایل الله ﷻ تاته معذورویلی دی پرتاباندی جهادفرض نه دی اوزامنوته یې وویل چې څه تکلیف دی که تاسوخپل پلارنه وګرزوی کیدای سی الله تعالی دته شهادت وربه برخه کی کله چې هغه دجهادلپاره ولاړی نوشهیدهم سو رضی الله عنه (١)

له مدینی څخه دوتلوپه وخت کې قبلی ته مخامخ ودریدی اودادعایې وغوښتله (اللهم ارزقنی الشهادة ولا تردنی الی اهلی) اې الله ﷻ ماته شهادت رانصیب کی اوکورته می بیرته مه راولی په همدې غزاکې دهغه زوی خلادبن عمروبن الجموح ﷺ هم شهیدسو دعمروبن الجموح ښځه هنده بنت عمروبن حرام چې دعبدالله بن عمرو بن حرام ﷺ خور وه اودجابر ﷺ ترور وه داراده وکړه چې درې سره یعنی خپل ورور عبدالله بن عمروبن حرام ﷺ اوخپل زوی خلادبن عمروبن الجموح ﷺ اوخپل میړه عمرو بن الجموح ﷺ په یوه اوښ باندی واچوی اومدینی ته یې راوړی اوهم هلته یې ښخ کړی مګر کله چې دادمدینی قصدوکوی اوښ پریوزی اوکله چې احدته مخ وګرزوی نوتیزروان سی .

هنده رضی الله عنها راغله اورسول الله ﷺ ته یې داپیښه بیان کړه نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل : عمروبن الجموح ﷺ خودمدینی څخه دروانیدوپه وخت کې څه نه وو ویلی ؟ هنده رضی الله عنها وویل هغه دعا وکړه چې اې الله ﷻ ماییاخپل کورته مه راستنوی ترخوشهیدسم رسول الله ﷺ وفرمایل اوښ په همدې وجه نه ځی اودایې وفرمایل : (والذی نفسی بیده ان منکم من اقسم علی الله لابره منهم عمرو بن الجموح ولقد رأیته یطاء بعرجتة فی الجنة)

(١) البدایه والنهایة جلد ٤ /ص /٣٧، ابن هشام جلد ٢ /ص /٨٨ ،، فتح الباری جلد ٣ /ص /١٧٣)

سيف لودين كتابتون

قسم په هغه پاک ذات چې زما روح دهغه په لاس کې دی رښتیا هم په تاسو کې یو شمیر داسې خلک هم سته چې که په الله ﷻ باندې لوړه وکوي نو الله ﷻ دهغوئ لوړه خامخا پوره کوي له هغوئ څخه یو عمرو بن الجموح ؓ هم دی ماهغه په همدې ګوډه پښه په جنت کې ګرزیدونکی ولیدی (۱) استیعاب ترجمه عمرو بن الجموح جلد ۲، صفحه ۵۰۴ حاشیه اصابه)

عبدالله بن عمرو بن حرام ؓ او عمرو بن الجموح ؓ اُحد ته نژدې دواړه په یوه قبر کې ښخ سو

دسعد ؓ دپلار خیثمه ؓ دشهادت قصه

خیثمه ؓ دسعد ؓ پلار سعد ؓ د بدر په غزاکې درسول الله ﷺ په ملګرتیا کې شهید سو خیثمه ؓ نبی کریم ﷺ ته راغلی او ورته وې ویل یارسول الله ﷺ زه پردې ډیر افسوزکوم چې ما بدر په غزاکې برخه نه واخیسته او زه په هغه غزاکې دشریک کیدو ډیر حریص وم ماله سعد ؓ سره قرعه اندازي وکړه (۲) مګر دانیک بختي زما دزوی سعد ؓ په برخه سوه پچه دهغه په نامه وختله او شهادت هم دهغه په برخه سو او زه پاته سوم،

نن شپه ماخپل زوی په خوب ولیدی چې په ډیر ښائسته او عجیبه شکل کې وو دجنت په باغو کې او ویالو کې ګرزی او ماته وایې چې اې پلاره ! ته هم دلته راسه دواړه به یوځای په جنت کې اوسیږو زما رب ﷻ چې له ماسره کومه وعده کړې وه هغه ما ییخې حق وموندله، یارسول الله ﷺ له هغه وخت دخپل زوی سره دیوځای کیدو مینه راسره ده سپین ږیری سوم او هډوکی مې کمزوری سو اوس دا تلوسه لرم چې په کومه لاره له خپل پالونکي سره ملاقی سم یارسول الله ﷺ ته له الله تعالی څخه دا دعا وغواړه چې الله ﷻ ماته شهادت او په جنت کې دسعد ؓ ملګری را په برخه کې ؟ رسول الله ﷺ دخیثمه ؓ لپاره دعاء وکړه الله ﷻ درسول الله ﷺ دعا قبوله کړه او خیثمه ؓ دُاحد په جنګ کې شهید سو (۳) انشاء الله ثم ان شاء الله زه ډیر ددې امیدلرم چې خیثمه ؓ به دخپل زوی سعد ؓ سره یوځای سوی وی رضی الله تعالی عنهما .

داُصَیرِمُ رضی الله تعالی عنه شهادت

عمرو بن ثابت ؓ چې په اصیرم سره مشهور وو تل له اسلام ګوښې اوسیدی کله چې داحد ورځ سوه نودده په زړه کې داسلام رڼا وځلیده او توره یې را واخیسته دجنګ میدان ته راورسیدی او له کافرانو سره ښه وجنګیدی ترڅو چې ټپی سو او پرځمکه ولویدی خلکو چې ولیدی اصیرم دی نو ډیر په تعجب سره یې پوښتنه ځنې وکړه چې اې عمرو بن ثابت ؓ ته ولې ودې جنګ ته راغلی یې داسلام په مینه او شوق او که دغیرت یا بل نامه

---

(۱) زرقانی جلد ۲ /ص/ ۵۰، روض الانف جلد ۲ /ص/ ۱۳۹، عیون الاثر صفحه ۳۴۷)

(۲) دخیثمه ؓ دشهادت بیان دبدر په غزاکې تیر سو) ———— (۳) زادالمعاد جلد ۲ /ص/ ۹۶)

سیف لودین کتابتون

په خاطر ؟ اصیرم ځواب ورکړ (بل رغبة فی الاسلام فآمنت بالله ورسوله فاسلمت واخذت سیفی وقاتلت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم حتی اصابنی مااصابنی)
زه داسلام دساتنی اومینی له کبله دلته راغلی یم ماایمان راووړ په الله ﷻ اودهغه په رسول ﷺ باندی اومسلمان سوم اوتوره مې راواخیسته درسو ل الله ﷺ په ملګرتیاکې دهغه له دښمنانوسره وجنګیدم ترڅو چی زه ټپی سوم داخبره یې خلاصه کړه اوساه یې ورکړه ﷺ(انه لمن اهل الجنة)رښتیاهم اصیرم له جنتیانوڅخه دی (رواه ابن اسحاق واسناده حسن

دمدینی هروګړی یواځي درسول الله ﷺ دسلامتیا اوروغتیا غوښتونکي وو

دجنګ په اړه مدینی منوری ته ویرونکی خبرونه رسیدلی وو له دې امله دمدینی منوری ښځي اونارینه ماشومان اوسپین ږیری ترخپلوخپلوانوزیات درسول الله ﷺ دروغوالی اوسلامتیا اودهغه دلیدلو ډیر ارمانجن اومینه ناک وو
لکه چی له سعدبن ابی وقاص ﷺ څخه روایت دی وایې کله چی موږ له احدراستنیدو په لاره کې رسو ل الله ﷺ پریوه انصاری ښځه باندی تیرسواودهغې ښځی میړه ، ورور ، اوپلار، ټوله په دې جنګ کې شهیدان سوی وو کله چی ودې ښځی ته دهغې دمیړه او ورور اوپلار دشهادت خبرواورول سو نودې وویل چی رسو ل الله ﷺ څنګه دی صحابه کرام ﷺ ورته وویل الله ﷻ لره دی حمدوی هغه روغ جوړدی هغې ښځی وویل ماته خوبې مخ مبارک راوښیی چی په خپلوسترګویې ووینم چی زړه مې ډاډه سی ، صحابه کرام ﷺ رسول الله ﷺ په اشاره وروښودې چی هم هغه دی ، کله چی دې ښځی رسول الله ﷺ ولیدی نوداسی الفاظ یې وویل (کل مصیبة بعدک جلل) هرغم له تاوروسته هیڅ اووړوکي اوکو چنی دی (ابن هشام جلد ۱، صفحه ۱۲)

دجنګ په میدان کې پرمخلصومسلمانانوباندی دخوب اوسکون نازلیدل دالله تعالي یوخاص انعام وو

کله چی یوه شیطان ددروغوخبرخپورکړ چی رسو ل الله ﷺ شهید سو نویوشمیرمسلمانان دانسانیت په تقاضا ددې خبرپه اوریدوسره خفه سو اوددې خفګان اوحیرانتیاپه حالت کې دڅه وخت دپاره ددوئ قدمونه دجنګ له میدان واوښتل اوپه دې جنګ کی چی دڅادپاره شهادت لیکل سوی وو هغه شهیدان سو اودڅادپاره چی اوښتل لیکل سوی وو هغه واوښتل اوڅوک چی دجنګ په میدان کې پاته سو له هغوڅخه مخلص مؤمنان اودیقین اوتوکل خاوندان وو په هغوئ باندی دالله ﷻ له لوری سکون اوآرام نازل سو داخلک په ولاړه ویده سو په دوئ کې یو طلحه ﷺ هم وو ابو طلحه ﷺ وایې چی څوځله زمالاسه توره پرځمکه ولویده مابه هغه بیاراپورته که داخوپه سترګولیدونکی اثروو

سیف لودین کتابتون

دهغه باطنی سکون هغه چی الله تعالی په دې وخت پرمخلصومؤمنانو باندی نازل کی دهغه سکون په وجه د کافرانو ویره اودبدبه له زړه په یوه ګړی ووتله اودمنافقانو ډله کومه چی په دې وخت کې په جنګ کې شریکه وه دوئ په سخت خفګان کې وو له دوئ سره یوائی دخپل ځان دساتلو فکروو دغه کمبختانو باندی خوب نه راغلی ، په دې اړه داآیت نازل سو : ثُمَّ أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُعَاسًا يَغْشَى طَائِفَةً مِنْكُمْ وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ(١٥٤) سورة آل عمران)

بیاالله عزوجل له هغه غم وروسته پرتاسو باندی دامن اوډاډ کیفیت نازل کی یعنی په تاسو کې یې په یوه ډله باندی خوب راوستی چی هغه یې راګیر کړل اویوه بله ډله داسی وه چی دوئ دخپلو ځانو په فکر کی وو اوپه الله عزوجل باندی یې دجاهلیت په شان بدګمانی کوله .

حافظ ابن کثیرفرمایې (١) چی په کومه ډله باندی خوب راغلی هغه ډله دهغه مؤمنانو وه چی دوئ په یقین اوثبات اواستقامت اوربښتینی توکل سره موصوف وو اودهغوئ دایقین وو چی الله تعالی به دخپل رسول ﷺ مرسته خامخاکوی اوله خپل رسول ﷺ سره یې چی کومه ژمنه کړی وه هغه به خامخاپوره کوی اودویمه ډله هغه چی دخپل ځان دخوندی ساتلو په فکر کې وه له دوئ څخه خوب وتښتیدی هغه دمنافقینو ډله وه هغوئ یوائی دخپل ځان په فکر کی وو دډاډاواطمینان اوامن له خوب بی برخی پاته سو .

په جنګ کې دمیرمنو برخه اودهغه حکم

په دې غزاکی دمسلمانانو څه ښځی هم شریکی وی په صحیح بخاری کې له انس ﷺ څخه روایت سوی دی چی دأحدپه ورځ ماعائشه صدیقه رضي الله عنها اوخپله مور ام سلیم رضي الله عنها ولیدی چی پیڅی یې بډوهلی دی اوداوبوژی یې ډکول اوپه شایې راوړل اوصحابه کرام ﷺ ته به یې اوبه ورکولی کله چی به ژی خالی سو نوبیابه یې ډک راوړی ..

په صحیح بخاری کې له عمرفاروق ﷺ څخه روایت سوی دی چی دابوسعید خدری ﷺ مور ام سلیط رضي الله عنها هم داحدپه ورځ موږته له اوبوډک ژی راوړل، په صحیح بخاری کې دربیع بنت معوذ رضي الله عنها څخه روایت سوی دی چی موږ به په غزاګانو کې له رسول الله ﷺ سره تلو ددې دپاره چی خلکوته اوبه ورکړو اودټپیانوپټی اوملهم وکوو اوشهیدان راټول کو ، دخالدبن ذکوان ﷺ په روایت کې نورزیادت هم سوی دی وایې چی (ولانقاتل) ربیع رضي الله عنها وایې چی موږ په جنګ کې برخه نه اخیستله دادرې سره روایتونه په صحیح بخاری کتاب الجهاد کې ذکرسوی دی دتفصیل دپاره فتح الباری جلد ٧ ، صفحه ٥٧ وګوری ،

(١) اصل عبارت داسی دی (ثم انزل علیکم من بعد الغم امنة نعاسا یغشی طائفة منکم یعنی اهل الایمان والیقین والثبات والتوکل وهم الجازمون باالله عزوجل وینجزما وعده سیعین رسوله وسینصر رسوله ینجیزله ماموله الخ تفسیر ابن کثیر جلد ١ /ص/ ٤١٨)

سیف لودین کتابتون

په سنن ابن ماجه کې راغلی دی، چې له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسوه (علی النساء جهاد) آیا پر ښځو باندی هم جهاد سته ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل (نعم جهاد لا قتال فیه الحج والعمرة) هو پر دوئ باندی داسی جهاد سته چی په هغه کې جنګ نسته یعنی حج او عمره (فتح الباری کتاب الحج باب حج النساء)

دصحیح البخاری په کتاب العیدین کې له ام عطیه رضی الله عنها څخه روایت دی چی موږ په غزاګانو کې دخبر اودټپیانو دعلاج په نیت له رسو ل الله ﷺ سره شریک کیدو هغه ښځو به یوائی خلکوته اوبه ورکولی اودټپیانو تداوی به یې کوله په جنګ کې به یې برخه نه اخیستله یوائی ام عماره رضی الله عنها په جنګ کې برخه واخیسته داوایې کله چی ما ابن قمئه ولیدی چی په رسول الله ﷺ باندی برید کوی نوزه هم په دې حالت کې رامخکې سوم جګړه مې پیل کړه اوپه اوږه می ژور زخم وخوړی اوپه ابن قمئه می وار وکی مګر دالله عزوجل دښمن دوې زغری اغوستی وی (١)

په دې غزاکی یوائی ام عماره رضی الله عنها په جګړه کې برخه واخیسته له دې پرته په ټولو غزاګانو پرته له یوی یادوو ښځو دنورو ښځو ګډون په جنګ کې په احادیثو کې نه دی ثابت او نه په کوم حدیث کې درسول الله ﷺ ښځوته دجنګ ترغیب ورکول ثابت دی،

په دې وجه دټول امت پردې باندی اجماع ده چی پرښځو باندی جهاد نه دی فرض مګر کله که کفار هجوم راوړی اودوخت تقاضا هم داوی چی ښځی په ګډون مجبوره سی.

دښځو فطری کمزوری اودوئ طبعی ناتوانی په خپله ددې دلیل دی چی پردوئ باندی جهاد نه دی فرض ددوئ دفطرت اوخوی خلاف دی، الله تعالی فرمایې :

{لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ} [التوبة: ٩١].

پر کمزورو اوناتوانانو اومریضانو خلکو باندی جهاد فرض نه دی..

رسول الله ﷺ به په هره غزاکې داټینګار کوی چی ښځه دې نه وژل کیږی یوځل رسول الله ﷺ یوه ښځه ولیده چی وژل سوی وه په غلطی سره وژل سوی وه رسول الله ﷺ و فرمایل :

(ماکانت هذه لتقاتل) دې خو دجګړی توان نه درلودی.

په صحیح بخاری کې له عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه روایت دی چی موږ غوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ موږ خو جهاد تر ټولو غوره اوښه عمل ګڼو ؟ آیا موږ له ځان سره په جهاد کې نه شریک کوی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : نه ستاسو جهاد حج مبرور دی.

دالله عزوجل حکم خو دښځو لپاره دادی چی (وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ) په خپلو کورو کې اوسیږی دباندی مه راوزی. (شرح سیر کبیر صفحه ٩٢ تر ١١٠) وګوری

---

(١) البدایه والنهایه جلد ۴ /ص / ۳۴، ابن هشام جلد ۲ /ص / ۸۴)

سیف لودین کتابتون

ځکه نبی کریم ﷺ د جمعی ولمانځه ته د ښځو راتګ نه دی خوښ کړی او د عطرا و خو شبوئی په لګولو سره او ښائسته جامی اغوستو سره و مسجد ته راتګ څخه يې منع کړی ده او ښځو د پاره د سراي په انګړ کې تر لمانځه په دالان کې او تر دالان بیا د ننه په خونه کې لمونځ غوره ګڼلی دی له دې وجهی شریعت مطهره د لمانځه په صفو کې د ښځو حاضری نه خوښوی نو د جهاد په صفو کې پر ته له ضرورته د دوئ حاضری څنګه خوښولای سی .

په دې وجه فقهاء نورالله مرقدهم دافتوی ورکړی چی د جمعی ولمانځه ته او جهاد ته د ښځو حاضریدل نسته مګر د مجاهدینو د مرستی لپاره او د مریضانو او ټپیانو د علاج په نیت یوائی د هغو ښځو حاضریدل روادی چی له دوئ سره خپل خپلوان وی لکه چی په یو حدیث شریف کې راغلی دی چی هیڅ ښځي ته نه دی روا چی پرته له میړه یاذی رحم محرم څخه حج یا بل سفر و کوی ، نو ځکه دیو شمیر فقهاؤ دا قول دی چی په کومه ښځه باندی چی حج فرض سی او دا میړه نه لری او نه بل داسی قریب لری نو په دې باندی نکاح واجب ده چی نکاح و کوی له میړه سره دې حج ته ولاړه سی د دې د پاره چی پرته له ذی رحم محرم څخه سفر و نه کوی ،،

مسجد ته د لمانځه لپاره د ښځو راتګ په دې شرط روادی چی د دوئ راتګ د فتنی سبب نه وی او که د فتنی سبب وو نو بیا ناروا او حرام دی ،

د غه رنګه په روغتونونو کې د ښځو په پردو نارینه وو سره تداوی کول هم له شکه خلاص حرام دی ،

درنو لوستونکو او زما خوږو دوستانو ودې او سنی پرمخ تللی نړه ته مه ګوری د نتی اخلاقو بنیاد او آبادی ټوله په نفسی غوښتنو او شهوتو او شیطانی خوند باندی ولاړه ده او د انبیاء علیهم السلام شریعت په عصمت او پاک لمنی باندی بنادی چاته چی الله تعالیٰ عقل ورکړی وی هغه د پاک لمنی او شهوت فرق کولای سی او څوک چی د نفس او شیطان او د غرب مریان سوی دی له هغوئ سره دلیل بی معنی او بی ګټی دی د داسی کم عقلانو ډیمو کراسانو روشن فکرانو عیاشانو په نزد د نکاح او زنا فرق هم نسته الله اکبر څنګه وخت راغلی چی کله شریعت مقدسه پاک لمنی ته بلنه ورکوی نو دا د شهوت او غرب بندګان پر هغه باندی ګوت نیونه کوی ..

(((لکه نن چی په افغانستان او نوره اسلامی نړه کې د غرب ګوډاګیان غواړی چی د تعلیم او تربیه په نامه ښځی لوڅي راوباسی او د اسلامی قوانینو پر ځای مغربی قوانین پلی کړی د اسلامی دین پر ځای د دیموکراسی نوی دین پلی کی د اشهوت فرستان خو په غرب کې هم په عیاشی نه مړیږی او س غواړی معصوم افغانان په دې رنګ ورنګوی ، العیاذ بالله ، (مترجم حمدالله زابلی سیوری کلی جوګیان مدرسه زیارت ۱۴۳۵ هجری سپوږمیز کال مطابق ۱۳۹۲ هجری لمریز)

سیف لودین کتابتون

داُحد د شهیدانو جنازه او کفن ورکول څنګه وسو

په دې غزاکې اویاتنه صحابه کرام ﷺ شهیدان سو په دوئ کې ډیر انصاروو ﷺ دبی وسی اومفلسی داحالت وو چی دکفن څادرهم پوره نه وو د مصعب بن عمیر ﷺ دکفن څادر دومره کوچنی وو چی سربه یې ورپټ کې پښې به یې ښکاره سوی اوکه به یې پښې ورپټې کړې نوسربه یې ښکاره سو وروسته بیانبی کریم ﷺ وفرمایل چی سریې پټ کړی اوپه پښویې اذخر (یو قسم بوټې دی) واچوی (صحیح بخاری غزوه احد) اودغه رنګه دسیدالشهداء حضرت حمزه ﷺ دکفن څادر هم دومره وړوکی وو لکه چی په معجم طبرانی کې له ابو اسید ﷺ څخه اودحاکم په مستدرک کې له انس ﷺ څخه روایت سوی دی دطبرانی ټول راویان ثقه دی ..

اودیوشمیرشهیدانوخوییخی یوڅادرهم نه وو بلکې دووتنوته به یې په یوه څادر کې کفن ورکوی اودوه ۲ دوه ۲ اودرې ۳ درې ۳ (۱) بیه یوه قبرکې ښخ کړل سو دښخیدلوپه وخت کې به یې داپوښتنه کوله چی په دوئ کې ډیر قرآن دکوم یادوو دچاچی به قرآن ډیر یادوو هغه به یې قبلی طرف ته په ډوری کې مخکې ایښودی اونبی کریم ﷺ به دافرمایل (اناشهید علی هؤلاء یوم القیامة) اودغه رنګه رسول الله ﷺ حکم وکړچی پرته له غسل ورکولویې په وینو ککړ ښخ کی (صحیح بخاری کتاب الجنائز) په صحیح بخاری کې له جابر بن عبدالله ﷺ څخه روایت سوی دی چی رسو ل الله ﷺ داحدپه شهیدانوباندی دجنازی لمونځ ونه کړ، مګر دسیرت دټولو علماء پردې باندی اتفاق دی چی رسول الله ﷺ داحدپه شهیدانو دجنازی لمونځ وکی اوډیر روایات دحدیثوهم ددې تائیدکوی لکه چی حافظ علاء الدین مغلطائی په خپل سیرت کې پردې باندی اجماع نقل کړی ده (۲) دنورتفصیل دپاره دحدیثوکتابونه مطالعه کی یوشمیرخلکو داقصد وکی چی خپل خپلوان مدینی ته یوسی اوهم هلته یې ښخ کړی مګر رسول الله ﷺ منع وکړه اوداحکم یې وکی چی په کوم ځای کی چی شهیدان سوی دی هلته دې ښخ سی (ابن هشام جلد ۱، صفحه ۹۱)

دقوم په نامه وژل سوی ته شهید نه ویل کیږی

داحدپه ورځ دقزمان په نامه یوسړی ډیره دلاوری ښکاره کړه اویوائی ده اوه ۷ یااته ۸ تنه مشرکین ووژل اوپه پای کې په خپله دئ هم ټپی سو کله چی یې دئ راپورته کی

---

(۱) ددرې ۳ لفظ دصحیح بخاری په روایت کې نسته بلکې دسنن په روایت کې راغلی دی چی دهغه امام ترمذی تصحیح کړی ده (فتح الباری جلد ۳ /ص /۱۶۹ کتاب الجنائز)

(۲) لکه چی حافظ مغلطائی دالصلاة علی الشهداء من غیرغسل ترعنوان لاندی لیکلی دی (وصلی علی حمزة ﷺ والشهداء من غیرغسل وهذا اجماع الاماشذبه بعض التابعین قال السهیلی لم یروعنه صلی الله علیه وسلم انه صلی علی شهیدفی شئ من مغازیه الافی هذه وفیه نظرلماذکره النسائی من انه صلی علی اعرابی فی غزوة اخری سیرة مغلطائی صفحه ۵۰)

سیف لودین کتابتون

اوکورته یې راوړی نویوشمیرصحابه کرام ﷺ ورته وویل (والله لقدابلیت الیوم یاقزمان فابشر) اې قزمان قسم په الله ﷻ نن ورځ تادیرلوی کاروکړتاته مبارکی وایو قزمان په ځواب کې ورته وویل (ماذاابشرفوالله ان قاتلت الاعن احساب قومی ولولا ذلک ماقاتلت قتال) تاسوماته دڅه شئ مبارکی اوزیری راکوی قسم په الله مادالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ دپاره جنګ نه دی کړی بلکې یواځی دخپل قوم دپاره جنګیدلی یم اودهغوئ دساتلوپه نیت جنګیدلی یم ..

تردې خبرو وروسته یې دټپویازخمونوتکلیف زیات سو ده توره راواخیسته اوځان یې حلال کی (۱) داقصه په ښه تفصیل سره دبخاری اوفتح الباری په حواله دجهاد په بحث کې تیره سوی دی .

(ف): داسړی له لویه سره منافق وو دمسلمانانوپه ملګری کې چی ده داجګړه وکوله نودایواځی دقوم اووطن په همدردی کې وه ترڅو چی په همدی کې مړسو په دې بناء باندی نبی کریم ﷺ وفرمایل : چی داسړی له دوزخیانوڅخه دی دالله ﷻ په نزد شهیدهغه څوک دی چی هغه یواځی داعلاء کلمة الله دپاره جهادوکوی اوپه همدغه لاره کې ووژل سی اوکوم سړی چی دقوم یاوطن دپاره وجنګیږی ځان قربان کړی ددې زمانی دعادت برابرهغه ته شهید قوم وایې مګرپه اسلام کې هغه ته شهید نه بلکې خلاف دشهید ورته وایې

تنبیه: قال ابن کثیروقد ورد مثل قصة هذافی غزوة خیبر کماسیأتی ان شاء الله تعالی . البدایه والنهایه جلد۴، صفحه ۳۶)

داحدغزا حکمتونه اوپټ رازونه اومسلمانانوته خبرداری

الله تعالی داحدغزا په بیان کې داسی آیتونه نازل کړه :

(وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (۱۲۱) سورة آل عمران)

چی دهغوڅخه په یوشمیرآیاتوکې دمسلمانانودماتی لاملونه اورازو اوحکمتو ته اشاره وه چی هغه په لنډ ډول ډول سره ولوستونکوته وړاندی کیږی ..

(۱) ددې لپاره چی تاسوته معلومه سی چی دالله ﷻ دپیغمبر ﷺ دحکم دنه منلو اوهمت بایللو اوپه خپل مینځ کې داختلافاتوڅه پایلی راوزی :

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُمْ بِإِذْنِهِ حَتَّى إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِنْ بَعْدِ مَا أَرَاكُمْ مَا تُحِبُّونَ مِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الْآخِرَةَ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ (۱۵۲) سورة آل عمران اویقیناً الله تعالی له تاسوسره خپله ژمنه پوره کړه کله چی تاسودالله ﷻ په حکم سره کافران ووژل ترڅوپوری چی کله تاسو څه کمزوری وکړه اوپه خپل منیځ کې موجګړی

سیف لودین کتابتون

وکولی اودحکم نه موسرغړونه وکړه تردې وروسته چې الله تعالی ستاسو خوښ شئ یعنی فتح اوبری درولیدی یوشمیرپه تاسوکې داسی وو چې دنیایې غوښته اویوشمیر بیایواځې داخرت غوښتونکی وو بیاالله عزوجل تاسوله دوئ څخه واړولاست یعنی ماتې یې درکړه ددې دپاره چې په تاسوازموینه وکوی ستاسو داخطا الله تعالی بخښلې ده اوالله تعالی په مؤمنانوباندی ډیرلوئ احسان کونکی دی،،

(۲) دویم حکمت داوو چې ټینګ اوکمزوری ، دروغجن ، اورښتینی ، سره بیل سی اودمخلص ، اومنافق ، رښتینی ، اودروغجن ، داخلاص اونفاق ، رښتیا اودروغ داسی ښکاره اوروښانه سی چې هیڅ شک پاته نه سی دالله ﷻ په علم کې خوټول مخکې لابیل وو مګر دالله عزوجل عادت دادی چې یواځې دخپل علم په بناء باندی سزاء اوجزاء نه ورکوی بلکې په دنیاکې یې خلک دسرپه سترګووینی نوترهغه وروسته په هغه باندی ثواب اوعذاب مرتب کیږی..

(۳) دریم حکمت داوو چې خپل خاص دوستان اومخلصین اودالله ﷻ دملاقات غوښتونکی دالله ﷻ په لاره کې دشهادت په لوی نعمت اوغټ احسان سره ونازوی هغه نعمت چې دوئ یې له ډیره وخته هیله درلوده اوپه بدرکې یې په فدیه په دی نیت اخیستی وه چې په راتلونکی کال کې به زموږاویا ۷۰ تنه دالله ﷻ په لارکې دشهادت مقام ته رسیږی لکه چې دابیان مخکې تیرسو اوپه دې نعمت اوعزت سره الله تعالی خپل دوستان بریالی کړه ظالمانو اوفاسقانوته دانعمت نه ورکوی الله تعالی فرمایې :

وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ (۱۴۰) سورة آل عمران)

اوددې دپاره چې الله تعالی خاص بندګان بیل کړی اوستاسوڅخه یوشمیرشهیدان کړی اوالله ﷻ ظالمان نه خوښوي.

(۴) څلورم حکمت داوو چې مسلمانان ددې شهادت اوماتې په بدل کې له ګناهو څخه پاک اوستره سی اوکومې خطاګانی چې له دوئ څخه سوی دی هغه دشهادت په برکت سره وبښل سی.

(۵) حکمت :داوو چې الله تعالی خپل دښمنان تباه اوبربادکې ځکه کله چې دالله ﷻ ددوستانو اومینانو اومخلصینو داسی وینه تویږی نودالله عزوجل غیرت په جوش راځې اودالله تعالی ددوستانووینه بل رنګ راوړی چې دهغه پایله داکیږی چې دالله ﷻ دښمنان چې دالله ﷻ ددوستانووینه توی کړی وه هغوئ په ډیر عجیبه طریقه سره تباه اوبرباد سی .وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ (۱۴۱)سورة آل عمران)

ژباړه :اوددې لپاره چې الله تعالی دمؤمنانو خیری پاک کړی اوکافران تباه اوبربادکې .

سیف لودین کتابتون

(۶) حکمت دا وو چې مسلمانانو ته دا وښیي چې دالله ﷻ عادت شریف دا دی چې ورځې اړوی را اړوی کله ودوستانو ته فتح اوبری ورکوی او کله ودښمنانو ته غلبه ورکوی لکه چې په دې آیت شریف کې اشاره ورته سوې ده : وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ (۱۴۰) آل عمران دا ورځې موږ د خلکو په مینځ کې اړه رااړه وو مګر په پای کې غلبه د دوستانو وي (وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ) ځکه که همیشه مؤمنانو ته بری ورکول سی نو ډیر منافقین به په اسلام کې داخل سی نو د مؤمن او منافق فرق به نه کیږی او مسلمانان به په دې نه پوهیږی چې کوم یو دالله ﷻ خاص بنده دی او کوم یو په دوئ کې د ډالرو او پیسو بنده دی او که تل د مؤمنانو ماته وی نو د بعثت هدف یعنی اعلاء کلمة الله نه راځی نو د حکمت غوښتنه هم هم دا دی چې کله فتح او بری او کله ماته او هزیمت د دې د پاره چې د ښه او بد سره بیل سی .

الله ﷻ فرمایې

:مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ (۱۷۹) سورة آل عمران)(۱)

الله تعالی مؤمنان پر دې حالت نه پریږدی تر څو چې پاک له ناولی څخه بیل او جلا نه کی .

(۷) حکمت دا وو چې که تل د دوستانو بریالی او په جګړه کې کامیابه وی نو اندیښنه دا ده چې هسې نه د دوستانو پاک نفسونه په سرکښی او تکبر اخته سی نو ځکه مناسب دا ده چې کله ارام وی او کله تکلیف او ستونزی او کله سختی او کله نرمی کله مسکنت کله فراخی ، چونکه قبض آیدت ای راهرو::: آن صلاح تست آیس دل مشو . . . . چونکه قبض آمد تو دروی بسط هم::: تازه باش وچین می فگن بر جبین

(۸) دا چې په ماته خوړلو سره زړه مه ماتوی او دالله ﷻ په دربار کې خشوع او عاجزی او خاکساری او سرپرځمکه کیږدی په همدې وخت کې به دالله ﷻ له لوری عزت او سرلوړی ستاسو په برخه سی ځکه د عزت او بری تحفه د ذلت او عاجزی څخه وروسته ورکول کیږی لکه چې الله تعالی فرمایې :

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (۱۲۳) سورة آل عمران)

په تحقیق سره الله تعالی په بدر کې ستاسو مرسته وکوله په داسی حال کې چې تاسو ناوسه او کمزوری واست .

او په بل آیت کې الله ﷻ فرمایلی دی :

لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئًا (۲۵) سورة توبه)

---

(۱) افضل البشر بعد الانبیاء علیهم السلام بالتحقیق سیدنا ومولانا ابوبکر الصدیق رضی الله عنه وارضاه ، څخه دا پوښتنه وسوه چې ته ولی مشرانو صحابه کرامو رضی الله عنهم او بدریانو رضی الله عنهم ته وظیفه نه ورکوی نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفرمایل (اری لاتُدَنّسهم الدنیا) زه غواړم چې دا خلک د دنیا خړا وخیرن نه کړی کیدای سی دا روایت په حلیة الاولیاء کې وی یا په بل کتاب کې وی خو اوس وخت یې له ما څخه حواله هیره ده ، والله اعلم)

سيف لودين كتابتون

اودحنین په غزا کې چې کله ستاسو ډیروالی تاسو په لویې اوتکبرکې واچولاست نو هغه ډیر والی تاسو ته هیڅ ګټه ونه رسوله)

الله تعالی چې کله خپل بنده ته عزت یابری ورکوی نولومړی هغه په ذلت اوعاجزی کې اخته کوی ددې دپاره چې نفس یې پاک اوصفاسی د لویی اوغرور اوځان خوښونې فاسده ماده یې له زړه ووزی دغه رنګه دخواری څخه وروسته عزت اوله ماتی وروسته بری اوله نیستی وروسته بقااوپاته والی ورکوی .

(۹)حکمت همداوو چې مسلمانانو ته داوښیې چې پرته له ډیره کوښښه اوپرته له پوره پاکۍ دمرتبواولوړو درجو په زړه کې خیال کول مناسب نه دی لکه چې الله عزوجل فرمایي :

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ (۱۴۲)

آیاتاسوګمان کوی چې جنت ته به داخل سی او الله تعالی به دهغو مجاهدینو اوصابرینو آزموینه نه وی اخیستی .

(۱۰)حکمت داوو چې ستاسونفسونه ددنیاله مینې پاک سی یعنی دحلالی دنیالکه غنیمت ددې دلاسته راوړو څخه هم پاک سی اوپه راتلونکی کې ستاسو زړونه دپاکی دنیادحاصلولو څخه لکه غنیمت هم پاک سی لکه چې تاسو درسو ل الله ﷺ خبرنه ومنله اودغنیمت په لیدوسره له غره راښکته سواست موږ په همدې وخت کې ستاسو هغه خوښ شئ چې بری دی په ماته بدل کړ ددې لپاره چې په راتلونکی کې ددنیامینه پریږدی او هغه لوری ته میلان ونه کوی اوددنیا وجود اونیستی ستاسو په زړو کې یوشان سی لکه چې الله تعالی فرمایي :

فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ لِكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَا أَصَابَكُمْ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (۱۵۳) سورة آل عمران)

وروسته الله تعالی تاسو ته ددې مال غنیمت وخواته دمیلان په وجه پر غم سربیره بل غم دروروسوی ددې لپاره چې په راتلونکی کې ستاسوحالت داسی شی چې کوم شئ ستاسوله لاسو څخه ووزی په هغه غمجن نه سی اونه دکوم غم په رسیدوسره تاسو خفه سی اوالله تعالی ستاسو په عملونه خبردی .

یعنی داحد په ماته خوړلو کې زموږ حکمت اولاریښودنه داده چې تاسو دتقوی اوزغم هغه لوړځای ته ورسیږی چې هلته ددنیاوجود اونیستی یوشان برابره ده لکه چې الله تعالی په بل ځای کې فرمایي

مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَبْرَأَهَا إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ (۲۲) لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ (۲۳) سورة الحديد)

سیف لودین کتابتون

نه رسیږی څه غم په څمکه یاستاسو په نفسو کې مګر هغه مخکې لا په لوح محفوظ کې لیکل سوی وی او یقیناً دا کار د الله ﷻ په نزد ډیر آسان دی او د غمو په نازولو کې د الله ﷻ حکمت دا دی چی تاسو په زغم کې دومره پیاوړی سی چی که د دنیا کوم شئ ستاسو څخه نیستی سی نو په هغه باندی غمجن نه سی او د دنیا د کوم شئ په لاسته راوړو خوشاله نه سی او الله تعالی هیڅ لویې کونکی او فخر کونکي نه خوښوی .

د دنیا په راتلو سره د زړه نه خوشالی او د دنیا په تلو سره د زړه نه خفګان دا د تقوی او صبر هغه لوړ لوړ مقام دی الله تعالی په دې آیاتو کې ودې ته اشاره وکړه چی دا حد په جنګ کې صحابه کرام ﷺ ته چی کوم غم ورسیدی بری یې په ماته بدل سو په دې کې د الله تعالی حکمت دا دی چی په راتلونکی کې د صحابه ﷺ په زړو کې د دنیا د نیستی کیدو هیڅ خفګان را نه سی او د دنیا شتون او نه شتون د دوئ په زړه کې یو شان برابر سی او په هر حال کې د الله ﷻ په پریکړه او فیصله باندی راضی او خوشاله سی ، د منافقینو او جاهلانو په څیر په الله تعالی باندی بد ګمان نه سی چی په دې مهال کې الله تعالی زموږ مرسته ولی ونه کړه مخلص او محبوب دوست خو داسی وی:

زنده کنی عطائی تو ::::::: در بکشی فدائی تو ::::::: جان شده مبتلائی تو ::::::: هر چه کنی رضائی تو

(۱۱) حکمت داوو چی دا پیښه د رسول الله ﷺ د وفات کیدو مقدمه وه چی په دې سره دا ښودل مقصود وو چی که چیری په دې وخت کې ستاسو د یو شمیر خلکو د انسانیت په تقاضا د رسو ل الله ﷺ د شهادت د خبر په اوریدو سره پښی ولړزیدی چی د دې منشأ معاذالله بیغیرتی او نفاق نه بلکې ډیر ایمان او اخلاص او ډیره مینه او محبت او اړیکی وی چی هغه ویرونکی خبر زړونه سو زغملای او دومره خفه سو چی د جنګ له میدان څخه یې پښي وښویدلی په دې وجه الله تعالی فرمایي

وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ (۱۵۲) سورة آل عمران)

الله تعالی ستاسو د اقصور وبخښی او الله تعالی په مؤمنانو ډیر مهربانی کونکی دی .

مګر د راتلونکی د پاره هوښیار او خبردار سی ! چی د رسو ل الله ﷺ د وفات څخه وروسته د هغه د دین او د هغه د سنت او مستقیمی لاری څخه وانه وړی د هغه له وفات وروسته به څه خلک د دین څخه واوړی چی په دې سره د مرتد کیدو فتنی ته اشاره وه او مقصود آګاهی وه چی د هغه په لاره باندی ژوند تیروی او د هغه په لاره باندی مړه سی محمد ﷺ که وفات سی یا شهید سی نو د هغه رب ﷻ خو ژوندی دی او دا آیتونه یې نازل کړه

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ (۱۴۴) سورة آل عمران)

سیف لودین کتابتون

اونه دي محمد ﷺ مگر یورسول دی چی دهغه څخه مخکې هم ډیر رسولان تیرسوی دی نوکه هغه مړسی یاشهیدسی نوآیاتاسوبه ددین څخه اوړی اوڅوک چی په خپلوپوندو سره بیرته واوړی نوهغه هیڅ کله الله تعالی ته هیڅ ضرر نه سی رسولای اوژردی چی الله تعالی به شکرکښونکوته بدله ورکوی .

کله چی رسول الله ﷺ وفات سو نو دیمن دهمدان قبیله چی مرتدکیدوته نژدی سوه نوعبدالله بن مالک ؓ دهمدان قبیلی خلک راټول کړه اوداخبره یې ورته وکړه ::

یامعشرهمدان انکم لم تعبدوا محمدعلیه السلام انماعبدتم رب محمد علیه السلام وهوالحی الذی لایموت غیرانکم اطعتم رسوله لطاعة الله واعلموا انه استنقذکم من النار ولم یکن الله لیجمع اصحابه علی ضلالة الی آخر الخطبة)

اې دهمدا ن خلکو تاسودمحمدرسو ل الله ﷺ عبادت نه کوی بلکې تاسودمحمدرسول الله ﷺ دپالونکی عبادت کوی اودمحمد ﷺ رب عزوجل خو ژوندی دی مرګ نه ورته رائی اوتاسوخودالله ﷺ درسول ﷺ خبره په دې وجه منله چی درسول ﷺ منل دالله ﷺ دمنلوذریعه سی اوپوه سی چی الله تعالی تاسو دخپل رسول ﷺ په وجه له اوره ساتی اوالله تعالی دهغه ملګری ؓ په ګمراهی نه رایوځای کوی ،،

وروسته یې داشعریې ولوستی :

لعمری لئن مات النبی مُحَمَّد ﷺ ،،،، لَمَا مَاتَ یَا ابْنَ القیل رَبُّ مُحَمَّد ﷺ

قسم دی زماپه ژوندکه نبی کریم ﷺ وفات سوی دی نودهغه رب عزوجل خوژوندی دی اې دسردارزامنو

دعَاهُ الیه رَبُّهُ فَاَجَابَهُ ::::::::: فیاخیر غَوْرِیَ ویاخَیْر مُنْجِدَ

دهغه رب هغه دخپل ځان وخواته وغوښتی . نوهغه دخپل رب داغوښتنه قبول کړه اوالله پاک ذات دی نبی کریم ﷺ دغور اونجد کښته اولوړ ترټولو اوسیدونکو غوره اوښه وو .

اصابه ترجمه عبدالله بن مالک ؓ جلد ۲، صفحه ۳۶۵ وحسن الصحابه فی شرح اشعار الصحابه جلد ۱، صفحه ۳۱۲)

تنبیه : دانبیاء علیهم السلام دژوند په اړه به ان شاء الله دوفات نبوی په بیان کې یادونه وسی

داحدپه غزاکې له برې وروسته دماتې راتلوپه حکمت اولاربښوونولنډې خبرې ,□

دالله ﷻ دژمنی برابردورځی په سر کې مسلمانان پرکافرانوباندی بریالی وو مگر کله چی مجاهدین له هغه مرکزه راکښته سوچی رسول الله ﷺ دپاته کیدو حکم ورته کړی وو اودغنیمت دمال په تمه له غره راکښته سو نو جنګ بیا مخ واوښتی بری په ماته بدل سو

سیف لودین کتابتون

دالله ﷻ په دربار کې دوستان او مخلصان او رښتيني عاشقان په کوچنيو کوچنيو خبرو هم رانيول کيږي دالله تعالى دانه وه خوښه چې دهغه ځانګړي دوستان صحابه کرام ﷺ دالله ﷻ درسول ﷺ دحکم يوه ذره سرغړونه وکوي که څه هم هغه مخالفت دڅه غلط فهمي او هيري په سبب سره وي دارنګه درښتيني عاشق دعشق دحالت خلاف دی چې هغه دخيرن مال اوغنيمت دټولولولپاره دغره له سره راکښته سي دکوم مال غنيمت دټولولولپاره چې صحابه کرام ﷺ له غره راکښته سو وو که څه هم هغه حلال او پاک مال وو لکه چې الله تعالى فرمايي:

فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (٦٩) سورة الانفال)

يعنی پاک اوحلال مال خوري مګر دصحابه کرام ﷺ په څير رښتيني عاشقانو دپاره دامناسب نه وه چې دالله ﷻ له اجازي پرته هغه حلال مال ته لاس ونه اوږده کی الله تعالى دخپلو خاصو دوستانو دخبرداری دپاره دڅه وخت دپاره بري په ماته بدل کړ چې پوه سی چې پرته له الله ﷻ بل څه ته کتل روا نه دي او په ازلی علم کې داټاکل سوی وو چې دڅه وخت دپاره که څه هم خفه سی مګر نژدې به بيرته دمکی په فتح ددې بدله ورکړله سی او په راتلونکی وخت کې به دقيصر او کسری خزانی ددوئ په لاس وکی ولوېږي هدف دا وو چې دخاصو دوستانو زړونه دحلالی دنيا له ميلان څخه هم پاک اوصفاسی په دې باره کې الله تعالى داآياتونه نازل کړه:

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُمْ بِإِذْنِهِ حَتَّى إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِنْ بَعْدِ مَا أَرَاكُمْ مَا تُحِبُّونَ مِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الْآخِرَةَ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ (١٥٢) سورة آل عمران)

او په تحقيق سره الله تعالى له تاسو سره دکومی فتح وعده چې کړي وه هغه يې رښتيني کړه په کوم وخت کې چې تاسو مشرکين دالله ﷻ په مرسته سره ووژل ترڅو چې هغه اوه ٧ يانه ٩ کسان چې ددوئ بيرغ په لاس کې وو هغه ټول ستاسو په لاس ووژل سو خو کله چې تاسو په خپله کمزوري سوی او په خپل مينځ کې موپه حکم کې اختلاف وکوی او تاسو دهغه دحکم سرغړونه وکوله وروسته تردی چې الله ﷻ ستاسو خوښ اوغوره شئ يعني په کافرانو باندی غلبه اوبری تاسو ته ستاسو په سترګو در وښودله ستاسو څخه يو شمير خو هغه وو چې ددنيا غنيمت ته مائل سو او يو شمير هغه وو چې يوائی داخرت غوښتونکی وو په دې وجه الله تعالى تاسو له دوئ څخه واړولاست او ستاسو لاس ته درغلی بري يې په ماته بدل کړ ددې لپاره چې په تاسو ازموينه وکوي او په ښکاره ټکو سره څرګنده سي چې څوک ټينګ دي او څوک کمزوري او رښتيا هم الله تعالى ستاسو داغلطي

سیف لودین کتابتون

وبخښله نوځکه اوس هیچاته په دې غلطی باندې بدویل اوتورپوی کول بلکې خوله پرانیستل هم روانه دی الله تعالی خودوئ وبښل اودابدویونکې یې نه ښښی اوالله تعالی په خاصومؤمنانو ډیر مهربان دی.

په دې آیاتوکې الله تعالی داوښودله چې جنګ په یوه وار پربل مخ واوښتی لومړی خوکافران دمسلمانانوپه لاس وژل کیدل اوس هغوئ دمسلمانانوپه وژلو مشغول وو ددې وجه خویوه داسوه چې تاسودرسول الله ﷺ خبره ونه منله اوبل داچې یوشمیرخلک دفانی دنیادسامان یعنی دغنیمت دمال په میلان اوطمع کې دغره له سره راکښته سول. دلږخلکودخطا په وجه ټول اسلامی لښکر دماتې ښکارسو ،، اناالله واناالیه راجعون

مګر ددې هرڅه سره دالله ﷻ احسانونه اومهربانی دمسلمانانو څخه بندی نه سوی چې سره له دې مینی څخه ډکه ملامتیا سره سره بیابیا مسلمانانوته تسلی ورکړه چې تاسو مه ناامیده کیږئ اوزړه مه ماتوئ موږستاسوخطا بیخی بخښلې ده لکه چې یوځل یې دبښنې اعلان په دې آیت کې وکړ (وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ)

اوبیایې ددې رکوع په پای کې دمسلمانانودزیاتی تسلی دپاره دویم ځل دعفوی اعلان وکوی لکه چې الله تعالی فرمایې: إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ (١٥٥) سورة آل عمران)

یقیناً کوموخلکوچې ستاسوڅخه شاواړوله په هغه ورځ چې دادلې یوله بل سره مخامخ سوی نوددې وجه داده چې دهغوئ دبعض اعمالوپه وجه شیطان دوئ په لغزش کې اخته کړل اوخیرڅه چې وسو هغه وسو اوس خامخایقیناً الله تعالی دهغوئ دالغزش بالکل ښښلې ده یقیناً الله تعالی ډیر ښښونکی اومهربان ذات دی..

الله تعالی دصحابه کرام ﷺ داکارخطا وګڼی په (استزلهم الشیطان) لفظ پردې دلالت کوی اوخطا معنی دادی چې اراده خودبل څه وی مګر دغلطی اوهیری په وجه پرته له ارادی اواختیاره دچا پښه وښویږی په لاره کې وغورزی ،، ودې ته اشاره وه چې داهرڅه چې وسو هغه لغزش وو قصداتاسو نه دی کړی اوخیرڅه چې وسو هم هغه موږپه خپل رحمت اوحلم سره وبښل تاسوته می دبښنې خبردرکې چې تاسو ستومانه اوخفه اوناامیده نه سی اوستاسودبښنې اعلان موټولې دنیاته په دې وجه واوروی چې دنیاته دامعلومه سی چې دالله تعالی احسانونه څنګه درسول الله ﷺ په ملګروباندې سوی وو اوڅنګه هغوئ ته رنګارنګ تسلی ورکولی کیدی ددې دپاره چې ترقیامته پوری دچادپاره داجواز نه وی چې دصحابه کرام ﷺ په شان کې خوله خلاصه کی کله چې الله تعالی هغوئ ته ښښنه وکړه اوالله تعالی له هغوئ څخه راضی سو نواوس دې هغوئ څوک وبخښی یانه

سیف لودین کتابتون

دی بخښنی له هغوئ څخه دي راضي سی یانه دی سی دالله تعالی دبخښنی اورضاڅخه وروسته دهیڅ بخښنی اورضاته اړتیا نسته، رضی الله تعالی عنهم ورضوا عنه ..
دبدرپه غزاکې په فدیه اخیستوباندی چی کومه ملامتیاوویل سوه دهغې وجه هم داوه چی دالله ﷻ ددښمنانو دوژلو پرځای ددنیامال اوسامان ته ولی تاسوترجیح ورکړه دغه رنګه داحدپه غزاکی ددنیادمال اوسامان دغنیمت مال ته دمیلان په وجه سره ملامتیا وویل سوه مګر وروسته بیا وبخښل سو ..

داحدغزا دماتی له رازو اوحکمتوله بیانه وروسته الله ﷻ دپخوانو انبیاء علیهم السلام دملګروبیان کوی :

الله ﷻ دمخکنیوانبیاء علیهم السلام دملګرو دعمل بیان وکوی، چی دالله ﷻ په لاره کی هغوئ ته رنګارنګ تکلیفونه اورنګارنګ غمونه رسیدلی دی مګر هغوئ نه همت وبایلی اونه ددښمنانوپه مقابله کې عاجزه سو په ډیر صبر اواستقامت سره یې دالله ﷻ له دښمنانوسره جهاد وکوی اوثابت قدم پاته سو مګر سره له دې ټولوخبرویې په خپله دلاوری اوهمت اوصبراواستقامت ته و نه کتل بلکې توجه یې خاص دالله ﷻ ولوری ته وه اوله الله تعالی څخه یې دګناهودبخښنی اوثابت قدم پاته کیدو دعاء غوښته الله تعالی هغوئ ته په دنیااوآخرت کې دهغه بدله ورکړه لکه چی الله تعالی فرمایې :

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ (۱۴۶) وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ (۱۴۷) فَآتَاهُمُ اللَّهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ (۱۴۸) سورة آل عمران)

اوډیروپیغمبرانوپه ملګرتیاکې دخدای عزوجل دوستانو له کافرانوسره جهاد وکوی مګر دهغه غموپه وجه سره کوم چی دوئ ته دالله ﷻ په لاره کې ورسیدل دوئ نه سست سو اونه کمزوری سو اونه ودښمنانوته عاجزه سو اوالله عزوجل له صبر کونکوسره مینه لری اوددوئ له ژبی څخه یوائی داخبره وتله چی اې ربّ عزوجل زموږ ګناهونه اوزموږ زیاتی راوبخښی اوزموږ قدمونه ټینګ کړی اودکافرانو په مقابله کې زموږ مرسته وکوی وروسته نو الله تعالی هغوئ ته ددنیا بدله اودآخرت غوره بدله ورکړه اوالله تعالی له نیکی کونکوسره محبت لری)

دلومړی ټوک پای کال ۱۴۳۵ / ۴ / ۹ هجری سپوږمیز (حمدالله دهجرت سیمه)
پښتوترجمه کونکي حمدالله سیوری ستاسوددعاپه هیله دهجرت سیمه کوټته کال ۱۴۳۵ هجری سپوږمیز مطابق ۱۳۹۲ هجری لمریز ۲۰۱۴ میلادی دفروری میاشت درنولوستونکوهیله لرم چی یوځل په دعاکي حمدالله هم درسره یادکي)

تهمت جلد اول

سیف لودین کتابتون

دحمراء الاسد غزا ، دهجرت دریم کال دکوچنی اختردمیاشتی ۱۶ ....(۱۷)

دهجرت ددریم کال بیلابیلی پیبنی ....(۱۸)

دابی سلمه عبدالله بن عبدالاسد ﷺ سریه دهجرت څلورم کال ....(۱۸)

دعبدالله بن انیس ﷺ سریه دهجرت ۴ کال دمحرم میاشت ....(۱۸)

درجیع پیبنه دهجرت څلورم کال دصفری میاشت ....(۱۹)

(ف) لومړی مسئله ....(۲۴)

دقرّاء سریه یعنی (دمعونه دڅاه پیبنه دهجرت څلورم کال ....(۲۵)

دبنی النضیر غزا دهجرت په څلورم کال ....(۲۷)

دذات الرقاع غزا دهجرت څلورم کال ....(۳۰)

دبدرهغه غزاچی په احد کې ژمنه سوی وه دهجرت څلورم کال ....(۳۲)

دهجرت دڅلورم کال بیلابیلی پیبنی ....(۳۳)

ددُومة الجندل غزا دهجرت پنځم کال دلومړی خور میاشت ....(۳۴)

دمریسیع یابنی المصلطق غزا دبرات میاشت ددوشنبی ورځ دهجرت پنځم کال ....(۳۴)

دافک پیبنه یعنی په ام المؤمنین عائشه صدیقه ﷺ پوری دتورتړلو پیبنه ....(۴۰)

فایده : دابوبکرصدیق ﷺ اودهغه دپاکې لور عائشه ﷺ دغوره والی دلیلونه ....(۵۰)

په ام المؤمنین عائشه صدیقه ﷺ او نوروپاکوبیبیانوپوری دتورپوری کونکوحکم ......(۵۳)

دخندق یااحزاب غزا دهجرت پنځم ۵ کال دکوچنی اخترمیاشت ....(۵۶)

فایده دخندق کیندلو طریقه په عربو کې نه وه ....(۶۰)

ضروری خبره کتاب الله او سنت رسول ﷺ دکسب او صنعت او دزدکړی او پرمختګ منع نه کوی ..(۶۰)

تنبیه : کوم خلک چی په اسلام کې دتعرضی جهادڅخه منکردی ....(۶۶)

دبنی قریظه غزا دهجرت پنځم کال دمیانی میاشت ....(۶۷)

تنبیه ؛ دبنوقریظه په اړه دسعدبن معاذ ﷺ پریکړه دتورات دحکم برابره وه ....(۷۲)

نکته ؛پرابولبابة ﷺ باندی دپښیمانتیاداسی کیفیت راغلی ....(۷۲)

د زینب بنت جحش ﷺ نکاح دهجرت پنځم کال ....(۷۳)

دپردې کولوحکم دالله ﷻ له لوری نازل سو ....(۷۴)

دهجرت شپږم کال دمحرم په لسمه محمدبن مسلمه ﷺ دقرطاء ....(۷۴)

دذی قرد غزا دهجرت شپږم کال ....(۷۷)

دبنی لحیان غزا دهجرت شپږم کال ....(۷۸)

دعکاشه بن محصن رضی الله تعالی عنه سریه دغَمر په لوری دهجرت شپږم کال ....(۷۸)

دمحمدبن مسلمه رضی الله تعالی عنه سریه دذی القصه په لوری ....(۷۹)

سیف لودین کتابتون

دابو عبیدة بن الجراح ﷺ سریه دذی القصه په لوری........(٧٩)
دجمُوم سریه دهجرت شپږم کال..........(٧٩)
دعیص سریه دهجرت شپږم کال..........(٧٩)
دطرَف سریه دهجرت شپږم کال..........(٨٠)
دحسمی سریه دهجرت شپږم کال..........(٨٠)
دوادی القری سریه بزرگه میاشت دهجرت شپږم کال..........(٨٠)
ددومة الجُندَل سریه دهجرت شپږم کال..........(٨١)
دفدک سریه دهجرت شپږم کال دشعبان میاشت..........(٨٢)
دام قرفه سریه دهجرت شپږم کال دروژې مبارکه میاشت..........(٨٢)
دعبدالله بن عتیک ﷺ سریه دیهودی ابورافع بن حقیق دوژلو لپاره..........(٨٣)
دعبدالله بن رواحه ﷺ سریه دهجرت شپږم کال..........(٨٣)
دکرز بن جابر فهری ﷺ سریه دعرنیین په لوری دهجرت شپږم کال..........(٨٣)
ابوسفیان عمرو بن امیه ضمری ﷺ درسول الله دشهادت لپاره مدینی ته ولیږی..........(٨٤)
دحدیبیة سوله دهجرت شپږم کال دذی القعدة میاشت..........(٨٥)
بیعَةُ الرِضوَان..........(٨٧)
دسولی شرائط په لاندی ډول کیښودل سو..........(٩٢)
دحدیبیه دسولی فایدی اورازونه اومسئلی اوحکمونه..........(٩٨)
حاصل دخبری دسولی په اړه..........(١٠٣)
دنړۍ وپاچهانو ته داسلام بلن لیکونه دهجرت شپږم کال..........(١٠٥)
لومړی لیک دروم دپاچا (هرقل) په نامه لیک مبارک دهجرت اووم کال..........(١٠٧)
دروم دپاچا په دربارکې ددحیه کلبی رضی الله عنه وینا کوی..........(١٠٧)
فایدی اوباریکی اورازونه..........(١١٣)
دخسروپرویز کسری دفارس باچا په نامه لیک مبارک دهجرت اووم کال..........(١١٤)
دحبشه دپاچا نجاشی په نامه لیک مبارک..........(١١٦)
دحبشه دباچا نجاشی له لوری درسول الله صلی الله علیه وسلم دلیک ځواب..........(١١٧)
دمصر او اسکندریه دپاچا مقوقس په نامه داسلام بلن لیک مبارک..........(١١٩)
دمقوقس سوالونه اودحاطب ﷺ ځوابونه..........(١١٩)
حاطب رضی الله تعالی عنه دمقوقس په دربارکې وینا وکړه..........(١٢٠)
دمصر دپاچا مقوقس له لوری دلیک ځواب..........(١٢١)
دبحرین دپاچا منذر بن ساوی په نامه لیک مبارک..........(١٢٤)

سیف لودین کتابتون

د منذر بن ساوی له لوری د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لیک ځواب................(۱۲۵)

د عمان پاچاته د اسلام بلن لیک مبارک د هجرت اتم کال..........................(۱۲۵)

د یمامه مشر هوذة بن علی په نامه د اسلام بلن لیک مبارک..........................(۱۲۹)

د دمشق د مشر امیر حارث غسانی په نامه د اسلام بلن لیک مبارک.........................(۱۲۹)

د خیبر غزا د هجرت اووم کال د محرم الحرام میاشت..........................(۱۳۲)

لومړی د ناعم کلا..........................(۱۳۵)

دویمه د قموص کلا..........................(۱۳۵)

دریمه : د صعب بن معاذ کلاوه..........................(۱۳۷)

څلورمه کلا د حصن قُلّه په نامه وه..........................(۱۳۷)

پنځمه دوطیح اَوسلاَلِم کلاوه..........................(۱۳۸)

تر خیبر وروسته د فدک فتح..........................(۱۳۹)

ورسول الله صلی الله علیه وسلم ته د زهرو رکولو پیښه..........................(۱۴۰)

مخابره : د خیبر ځمکی بیرته یهودوته په بزرگری وسپارل سوی..........................(۱۴۱)

د ابو هریرة رضی الله تعالی عنه راتګ و خیبرته..........................(۱۴۱)

د خیبر د غنیمتو ویش څنګه وسو ؟..........................(۱۴۱)

فائدة للمدرسین..........................(۱۴۳)

مهاجرو ﷺ وانصارو ﷺ ته بیرته خپل باغونه وسپارل..........................(۱۴۳)

لومړی مسئله : د محرم په میاشت کې جنګ او جګړی کول..........................(۱۴۴)

دویمه مسئله : د خیبر د ځمکو ویشل..........................(۱۴۴)

دریمه مسئله : هغه شیان چی په خیبر کې منع سو..........................(۱۴۵)

څلورمه :مسئله د متعت حرام والی..........................(۱۴۶)

د متعت د حرامو الی اعلان څه وخت وسو ؟..........................(۱۴۶)

د اسلام په پیل کې څنګه متعت مباح اوروا وو ؟ د شیعه ګانو او سنی متعت زنا دی........(۱۴۹)

دنړی له پیدا کید و بیا ترا وسه پوری پرته له شیعه ګانو په هیڅ دین کې متعة نه دی رواسوی (۱۵۱)

د متعت د حرامو الی یو عقلی دلیل..........................(۱۵۱)

د حبشه ډیر مهاجرین مدینی منوری ته راغلو..........................(۱۵۲)

د وادی القری او تیما فتح..........................(۱۵۲)

د لمانځه راګرزید ل او د تعریس شپه..........................(۱۵۳)

لومړی فایده په لمانځه او عبادت کې د انبیاء علیهم السلام څخه د غفلت په وجه هیڅکله سهوه نه کیږی....(۱۵۳)

ام حبیبه رضی الله تعالی عنها هم په همدې کال مدینی منوری ته راغله..........................(۱۵۴)

سیف لودین کتابتون

د عمری قضا دهجرت اتم کال د ذی قعدة الحرام میاشت........................(۱۵۴)

د میمونة رضی الله تعالی عنها نکاح.......................................(۱۵۶)

سریه اخرم بن ابی العوجاء دهجرت اتم کال......................................(۱۵۷)

دهجرت اتم کال د غالب بن عبدالله لیثی رضی الله تعالی عنه سریه..........(۱۵۷)

د خالد بن ولید ﷺ او عثمان بن طلحه ﷺ او عمرو بن العاص ﷺ اسلام راوړل دهجرت ۸ کال(۱۵۷)

د موته غزا ، دهجرت اتم کال د دریمی خور میاشت..............................(۱۶۱)

نکته :د خالد بن ولید ﷺ په اړه..(۱۶۷)

د محمود غزنوی قصه د عبدالله ابن رواحه ﷺ په ثیرشک.........................(۱۶۷)

د عمرو بن العاص رضی الله تعالی عنه سریه ذات السلاسل په لوری دهجرت ۸ کال.....(۱۶۹)

د امین الامة ابو عبیدة ابن الجراح رضی الله تعالی سریه د سیف البحر.............(۱۷۰)

د مکی مکرمی فتح د ملسمانانو لوی بریٔ او د اسلام سرلوړی دهجرت ۸ کال..........(۱۷۱)

ابو سفیان مدینی منوری ته د پریکړی دنوی کولو او وخت زیاتولو لپاره ځی..........(۱۷۴)

د حاطب بن ابی بلتعه رضی الله تعالی عنه قصه.....................................(۱۷۵)

د حاطب بن ابی بلتعه رضی الله تعالی عنه د لیک مضمون...........................(۱۷۸)

اسلامی لښکر له مدینی منوری روانیږی..(۱۷۹)

اسلامی لښکر په مرالظهران کی پړاو واچوی..(۱۸۲)

ابو سفیان بن حرب اسلام راوړی...(۱۸۴)

اسلامی لښکر مکی مکرمی ته د داخلیدو په حال کی دهجرت اتم کال د روژی ۲۰........(۱۸۶)

تر فتح وروسته رسول الله ﷺ مسجد حرام ته داخل سو..................................(۱۸۹)

د بیت الله شریف پر دروازه باندی رسول الله ﷺ لومړی خطبه ولوسته..................(۱۹۰)

حجابت او سقایت : یعنی حاجیانو ته د زمزم اوبه ورکول او د کعبه شریف کلیانی.......(۱۹۱)

د کعبی شریف پر بام باندی بلال رضی الله تعالی عنه اذان کوی.......................(۱۹۱)

له نارینه او ښځو سره بیعت...(۱۹۳)

دویمه خطبه...(۱۹۵)

د مهاجرینو هغه کورونه چی مشرکینو په زور نیولی وو یا خرڅ کړی و.................(۱۹۶)

له بخښنی وروسته د ځوځانګړو او سخترینو مجرمینو په اړه حکم.......................(۱۹۶)

لومړی کس عبدالله بن خطل...(۱۹۸)

اووم : عبدالله بن سعد بن ابی سرح..(۱۹۹)

اتم : عکرمه بن ابی جهل..(۱۹۹)

نهم : هبار بن الاسود..(۲۰۱)

سیف لودین کتابتون

لسم : وحشي بن حرب..........(۲۰۲)

دوولسم : (حارث بن طلاطل ترپنځه لسمه..........(۲۰۳)

دابی قحافه رضی الله تعالی عنه اسلام راوړل ! یعنی دابوبکرصدیق رضی الله عنه دپلار..........(۲۰۴)

دصفوان بن امیه اسلام راوړل..........(۲۰۴)

دسهیل بن عمرو رضی الله عنه اسلام راوړل..........(۲۰۵)

دابولهب ددواړو زامنو عتبه او معتب اسلام راوړل..........(۲۰۶)

دمعاویه بن ابی سفیان رضی الله تعالی عنه اسلام راوړل..........(۲۰۶)

دمندرانو (بت خانو) دنړولو لپاره څو ټولگی ولیږل سو..........(۲۰۷)

دعزی بت اوسواع بت نړیدل..........(۲۰۷)

دمنات بت دړی وړی سو..........(۲۰۷)

دحنین ،اوطاس ،اوطائف غزاگانی دهجرت اتم کال..........(۲۰۸)

دطائف محاصره..........(۲۱۲)

دحُنین دغنیمتو ویشل..........(۲۱۳)

له جعّرانی څخه دعمری په نیت دهجرت اتم کال..........(۲۱۶)

دمتعت دحراموالی اعلان..........(۲۱۶)

دهجرت داتم کال بیلابیلی پیښي..........(۲۱۷)

(لطائف او معلومات دفتح رازونه اوښوونی..........(۲۱۷)

په همدې کال دبیلابیلو ځایو والیان او امیران وټاکل سو..........(۲۱۹)

دعاملانو (زکات ټولونکو) لیږل دهجرت دنهم کال پیل..........(۲۱۹)

بنوتمیم ته دعیینة بن حصن فزاری رضی الله عنه سریه دمحرم میاشت دهجرت نهم کال..........(۲۲۰)

ادب ساتل ډیر سترنعمت دی..........(۲۲۱)

دعطارد بن حاجب تمیمی خطبه..........(۲۲۱)

دثابت بن قیس انصاری رضی الله تعالی عنه خطبه دعطارد په ځواب کې..........(۲۲۲)

بنی المصطلق ته دولید بن عقبه بن ابی معیط رضی الله تعالی عنه لیږل..........(۲۲۳)

پاملرنه : په دې آیت کې له فسق څخه فسق لغوی مراد دی..........(۲۲۳)

دعبدالله بن عوسجه رضی الله تعالی عنه سریه دهجرت ۹ کال..........(۲۲۴)

دقبطه بن عامر رضی الله تعالی عنه سریه وخشعم قبیلی ته دهجرت ۹ کال..........(۲۲۴)

دضحاک بن سفیان رضی الله تعالی عنه سریه وبنی کلاب ته..........(۲۲۴)

حبشه ته دعلقمة بن مجزر مدلجی رضی الله تعالی عنه سریه..........(۲۲۴)

سیف لودین کتابتون

دطئ قبیلی دبتانوماتولولپاره دعلی بن ابی طالب رضی الله تعالی عنه سریه اودنړی
دمشهورسخی حاتم طائی دزوی اولور داسلام یادونه ....(٢٢٥)
دکعب بن زهیررضی الله تعالی عنه اسلام راوړل ....(٢٢۶)
دتبوک غزا دهجرت نهم ٩ کال درجب میاشت ....(٢٢٨)
حدیث انت منی بمنزلة هارون من موسی علیه السلام ددی حدیث وضاحت ....(٢٣٠)
مسجدضِرار ونړول سو ....(٢٣۴)
دتبوک له غزاپاته سوی کسان ....(٢٣۶)
دهجرت نهم ٩ کال دمیانی په میاشت کې ابوبکرصدیق رضی الله عنه دحج امیروټاکل سو ....(٢٣٨)
دهجرت دنهم کال بیلابیلی پیښې ....(٢۴٠)
مسئله : دکافرپه جنازه کې ګډون اودهغه په قبرباندی دریدل له شکه خلاص ناروادی ...(٢۴٠)
عام الوفود : دهجرت لسم کال دپلاوی اوهیئتونو کال ....(٢۴١)
لومړی پلاوی دهوازن دقبیلی وو ....(٢۴١)
رسول الله صلی الله علیه وسلم ددوئ په ځواب کې وفرمایل ....(٢۴٣)
دویم پلاوی دثقیف قبیلی دهجرت ٩ کال رمضان المبارک ....(٢۴٣)
دریم دبنی عامربن صعصعه قبیلی پلاوی ....(٢۴۵)
څلورم پلاوی دعبدالقیس وو ....(٢۴۶)
پنځم دبنی حنیفه پلاوی په کال نهم ٩ هجری کی ....(٢۴٧)
شپږم : دطئ قبیلی پلاوی ....(٢۴٨)
اووم : دکِندَه قبیلی پلاوی ....(٢۴٨)
اتم : داشعَریین پلاوی په کال اووم هجری کې ....(٢۴٩)
نهم دازد قبیلی پلاوی ....(٢۵٠)
لسم : دبنی الحارث قبیلی پلاوی دهجرت لسم کال ....(٢۵٠)
یوولسم پلاوی دهَمدَان قبیلی وو ....(٢۵١)
دولسم پلاوی دمُزَینَه قبیلی وودهجرت پنځم کال ....(٢۵٢)
دیارلسم پلاوی ددوس قبیلی و ....(٢۵٢)
څورلسم دنجران دنصاراؤ پلاوی اوددوئ سوالونه ....(٢۵٢)
دنصاری ووسره مناظره ....(٢۵٣)
مباهله ! ددې آیاتوله نازلیدوروسته نبی کریم ﷺ دمباهلی غوښتنه وکړه ....(٢۵۵)
په دریمه ورځ رسول الله ﷺ یو پریکړه لیک ولیکی دهغه لیک مضمون ....(٢۵۶)

سیف لودین کتابتون

پنځه لسم :دفروة بن عمرو جذامی استازی .... (۲۵۷)
شپاړسم :ضمام بن ثعلبه رضی الله عنه داستازی په حیث .... (۲۵۸)
اوولسم پلاوی دطارق بن عبدالله محاربی دبنی محاربو پلاوی .... (۲۵۹)
اتلسم :دتجیب قبیلی پلاوی .... (۲۶۰)
نولسم پلاوی دهذیم قبیلی وو .... (۲۶۱)
شلم دبنو فزاره پلاوی وو .... (۲۶۱)
یویشتم دبنو اسد پلاوی په کال نهم هجری کی .... (۲۶۱)
دوه ویشتم دبَهرآءِ پلاوی .... (۲۶۲)
درویشتم دعُذرَه قبیلی پلاوی .... (۲۶۲)
څلیرویشتم پلاوی دبلی قبیلی دهجرت نهم کال .... (۲۶۳)
پنځه ویشتم دبنی مرّه پلاوی دهجرت نهم کال .... (۲۶۳)
شپږویشتم دخَولاَن قبیلی پلاوی په کال لسم هجری کې .... (۲۶۳)
اووه ویشتم دمحارب پلاوی .... (۲۶۴)
اته ویشتم دصدآء پلاوی په کال اتم هجری کی .... (۲۶۴)
نه ویشتم پلاوی دغسان قبیلی دهجرت لسم کال .... (۲۶۴)
دیرشم دسَلاَمَان پلاوی دهجرت لسم کال .... (۲۶۵)
یودیرشم دبنی عبس پلاوی .... (۲۶۵)
دودیرشم دغامد قبیلی پلاوی دهجرت لسم کال .... (۲۶۵)
درودیزشم دأزْد قبیلی پلاوی .... (۲۶۶)
څلوردیریشم دبنی المنتفق پلاوی .... (۲۶۷)
پنځه دیرشم دنخع قبیلی پلاوی دهجر یوولسم کال .... (۲۶۷)
په یمن کې داسلام ښوونه اوروزنه په کال لسم هجری .... (۲۶۷)
ونجران ته دخالدبن ولید رضی الله تعالی عنه سریه دهجرت لسم کال .... (۲۶۸)
دیمن په لوری دعلی کرم الله وجهه سریه دهجر ت لسم کال .... (۲۷۰)
حجة الوداع (له امت څخه درخصتید وآخری حج .... (۲۷۱)
نبی کریم صلی الله علیه وسلم په غد یرخم کې هم خطبه ولوسته .... (۲۷۳)
دجبرئیل آمین علیه السلام راتګ .... (۲۷۴)
دهجرت یوولسم ۱۱ کال داسامة بن زید رضی الله تعالی عنه سریه .... (۲۷۵)
نبی کریم صلی الله علیه وسلم داخری منزل لپاره دسفرتیاری .... (۲۷۶)
دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ناورغي پیل کیدل دهجرت ۱۱ کال دصفری میاشت ...... (۲۷۷)

سیف لودین کتابتون

دسیدة النساء فاطمة الزهرا رضی الله تعالی عنها وینا........(۲۷۸)
دکاغذ نه راوړلو پیښنه........(۲۷۹)
دنبی کریم صلی الله علیه وسلم آخری خطبه........(۲۸۱)
درسول الله دجماعت آخری لمونځ او ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته دلمونځ ورکولو حکم........(۲۸۲)
دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دوفات ورځ........(۲۸۵)
دنبی کریم صلی الله علیه وسلم د نزع حالت........(۲۸۶)
دنبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم د وفات تاریخ........(۲۸۷)
دنبی کریم ﷺ عُمرشریف دوفات په وخت کې څو کاله وو........(۲۸۸)
دخبر خپریدل او دصحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین دغم او خفگان یوه عجیبه حالت........(۲۸۸)
دابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه خطبه........(۲۸۹)
دابوبکرصدیق رضی الله تعالی دویمه خطبه........(۲۹۲)
دبنوساعده په سقیفه کې دانصارو رضی الله عنهم راغونډیدل........(۲۹۴)
دنبي کریم صلي الله علیه وسلم دِ جنازی او کفن او غسل بیان........(۲۹۶)
دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دجنازی لمونځ........(۲۹۷)
دنبی اکریم صلی الله علیه وآله وسلم تد فین (ښخول)........(۲۹۹)
رازونه او حکمتونه........(۳۹۹)
لومړی راز : دآخرت دسفرتیاری........(۲۹۹)
دکاغذ دِ پنبي په اړه سوال اوځواب........(۳۰۰)
دابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه امامت........(۳۰۱)
ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه دنبی کریم ﷺ په ژوند کې څوورځی لمونځ ورکړ........(۳۰۴)
دنبی کریم ﷺ وفات دمیا شتی په څوومه ورځ وو........(۳۰۴)
دویمه فایده :له دنیا څخه درخصتیدو په وخت کې........(۳۰۵)
دبنی ساعده په سقیفه کې دخلافت دبیعت بیان........(۳۰۶)
سعدبن عباده رضی الله عنه وغونډی ته وینا کوی........(۳۰۶)
دابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه وینا دسقیفه په غونډه کې........(۳۰۸)
سعدبن عباده رضی الله عنه دابوبکرصدیق رضی الله عنه دخبری تائید وکړ........(۳۱۱)
عمرفاروق رضی الله عنه دابوبکرصدیق رضی الله عنه دري ښه اوستر خویونه بیان کړه........(۳۱۲)
دانصارو رضی الله عنهم له بیعت وروسته دټولو صحابه کرام رضی الله عنهم بیعت........(۳۱۵)
دعمرفاوق رضی الله عنه خطبه له ابوبکرصدیق رضی الله عنه سره ترعام بیعت کولو مخکې........(۳۱۵)
تربیعت وروسته دابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه لومړنی خطبه........(۳۱۶)

سیف لودین کتابتون

د علی کرم الله وجهه بیعت له ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه سره..................(۳۱۸)
سعد بن عباده ﷺ هم له ابوبکر صدیق ﷺ سره بیعت وکړ..........................(۳۲۲)
ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه عمر فاروق ﷺ ته ګیله کوی..........................(۳۲۳)
په بحرین یا عمان کې له عمرو بن العاص ﷺ څخه د خلکو پوښتنې..........................(۳۲۳)
نبی کریم ﷺ د هیچا لپاره د خلافت وصیت نه وو کړی او ددې دلائل..........................(۳۲۴)
سوال : نبی کریم ﷺ ولی د خپل خلافت او امارت لپاره څوک ونه ټاکل..........................(۳۲۷)
د خلافت په مسئله کې د اهل السنت والجماعة او شیعه ګانو د اختلاف دلاملو پیژندنه....(۳۲۸)
نبی کریم صلی الله علیه وسلم په میراث کوم شیان پریښودل..........................(۳۳۰)
د فدک څو مره باغ وو..........................(۳۳۵)
د فاطمة الزهراء ﷺ د خفګان په اړه سوال او ځواب..........................(۳۳۶)
د اهل السنت والجماعة ځواب د فاطمة ﷺ د غصه کیدو په اړه..........................(۳۳۷)
پاملرنه ! شیعه ګان وایې چی فاطمه ﷺ په ابوبکر صدیق ﷺ باندی غصه سوه..........(۳۳۹)
د نبی کریم ﷺ میراث د ټول امت لپاره وقف دی او ددې حکمتونه..........................(۳۴۰)
له وفات وروسته د نبی کریم ﷺ ژوند..........................(۳۴۱)
سوال : په قرآن کریم کې په ښکاره د نبی کریم ﷺ د مرګ ویل سوی دی..........................(۳۴۸)
د نبی کریم ﷺ د ژوند په اړه د مولانا محمد قاسم نانوتوی قدس الله سره غوره وینا........(۳۵۰)
امهات المؤمنین رضی الله تعالی عنهن (یعنی د ټولو مسلمانانو مورانی)..........(۳۵۹)
رازونه ، حکمتونه او فایدی..........................(۳۵۹)
د امهات المؤمنین رضی الله تعالی عنهن شمیر او ددوئ د نکاح ترتیب..........................(۳۶۱)
لومړی بی بی ام المؤمنین خدیجة الکبری بنت خویلد رضی الله تعالی عنها..........(۳۶۲)
د خدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها ولیمه..........................(۳۶۵)
د نبی کریم صلی الله علیه وسلم اولاد..........................(۳۶۶)
د خدیجة الکبری ﷺ فضائل او مناقب..........................(۳۶۷)
دویمه بی بی سَوده بنت زمعه رضی الله تعالی عنها..........................(۳۶۸)
دریمه بی بی ام المؤ المنین عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها و عن ابیها..........(۳۷۰)
د عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها علم او پوهه..........................(۳۷۲)
د عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها تقوی او پرهیزګاری..........................(۳۷۲)
د عائشه صدیقه رضی الله تعالی مناقب..........................(۳۷۳)
څلورمه بی بی ام المؤمنین حفصه بنت عمر فاروق رضی الله تعالی عنها و عن ابیه..........(۳۷۴)
پنځمه ام المؤمنین زینب بنت خزیمه چی دام المساکین په لقب مشهوروه ﷺ..........(۳۷۵)

سیف لودین کتابتون

شپږمه بی بی ام المؤمنین ام سلمه بنت ابی امیّه رضی الله تعالی عنها.................(۳۷۶)
دام سلمه رضی الله تعالی عنها فضائل او کمالات.......................(۳۷۷)
اوومه بی بی ام المؤمنین زینب بنت جحش رضی الله تعالی عنها.................(۳۷۸)
درسول الله صلی الله علیه وسلم دسترګو مبارکو پاکوالی.......................(۳۸۲)
دسورة احزاب په ۲۷ آیت کې له پټیدو لوڅخه کوم پټیدل مراددی.......................(۳۸۳)
دزینب بنت جحش رضی الله تعالی عنها دواده دودی.......................(۳۸۴)
دزینب بنت جحش رضی الله تعالی عنها فضائل او مناقب.......................(۳۸۵)
دزینب بنت جحش رضی الله تعالی عنه وفات او مړینه.......................(۳۸۸)
دستر او پردی مسئلی ته لنډه کتنه.......................(۳۸۹)
دښځو په هکله دنبی کریم صلی الله علیه وسلم وینا.......................(۳۹۰)
دپردی او ستر فائدی او دبی ستری زیانونه او ضررونه.......................(۳۹۱)
ابلیس علیه اللعنة څه وخت ډیرخوشاله سو مولوی مثنوی قصه کوی.......................(۳۹۱)
اتمه بی بی ام المؤمنین جویریه بنت حارث بن ضرار رضی الله تعالی عنه.......................(۳۹۵)
نهمه بی بی ام المؤمنین ام حبیبه بنت ابوسفیان رضی الله تعالی عنها.......................(۳۹۵)
لسمه : بی بی ام المؤمنین صفیه بنت حیی بن اخطب رضی الله تعالی عنها.......................(۳۹۸)
یوولسمه : بی بی ام المؤمنین میمونة بنت حارث رضی الله تعالی عنها.......................(۴۰۱)
دنبی کریم صلی الله علیه وسلم مینځی ! ماریه قبطیه رضی الله عنها.......................(۴۰۲)
ډیرودونه یانکاح وې کول داسلام له نظره.......................(۴۰۲)
رسول الله صلی الله علیه وسلم ولی ډیرودونه کړی دی.......................(۴۰۸)
دانسانی ژوند دوه اړخونه دی.......................(۴۰۸)
درسول الله صلی الله علیه وسلم اولادونه.......................(۴۰۹)
لومړی : قاسم رضی الله عنه.......................(۴۱۰)
دویم زینب رضی الله تعالی عنها.......................(۴۱۰)
دریم رقیه رضی الله تعالی عنها.......................(۴۱۱)
څلورم ام کلثوم رضی الله تعالی عنه.......................(۴۱۲)
پنځم فاطمة الزهراء رضی الله تعالی عنها.......................(۴۱۳)
دفاطمة الزهراء رضی الله تعالی عنها فضائل او مناقب.......................(۴۱۴)
شپږم ابراهیم رضی الله تعالی عنه.......................(۴۱۴)
درسول الله صلی الله علیه وسلم حلیه مبارکه.......................(۴۱۴)
دنبوت مهر.......................(۴۱۵)

سیف لودین کتابتون

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ږیره مبارکه ....(۴۱۶)
دنارینه وو ږیره اودښځو ویښتان ....(۴۱۷)
دنبی کریم صلی الله علیه وسلم لباس اوجامه ....(۴۲۰)
دنبی کریم صلی الله علیه وسلم چپنه مبارکه ....(۴۲۱)
دنبی کریم صلی الله علیه وسلم جامه دابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام په څیر جامه وه معاذالله دقوم اووطن درواج جامه نه وه ....(۴۲۲)
التنبه علی مافی التشبه یعنی له کافرانو سره دمشابهت مسئلی ته یوه لنډه کتنه ....(۴۲۴)
دمشابهت حقیقت څه دی ؟ ....(۴۲۸)
دقومونو اوامتونو اختلاف ....(۴۲۸)
دمشابهت تعریف یا پیژندنه ....(۴۲۹)
له کفارو یهودو اونصاراوو سره دمشابهت حکم ....(۴۲۹)
له کافرانو سره دمشابهت دناروا والی دلیلونه ....(۴۳۲)
خلاصه دمشابهت دپیژندلو ....(۴۳۳)
له پردو سره دمشابهت دتاوانو اوضررو پایلی اونتیجی ....(۴۳۴)
بلکې دکافرانو جامه اوددوئ دشعائرو غوره کول لکه کرسمیس اونوروز ....(۴۳۵)
یاپه نورو الفاظو داسی ووایو !چی راځی دخپلو دښمنانو جامه پتلون اونیکټایې مو ږهم له دوئ سره دوفاداری دښکاره کولو لپاره وترو ....(۴۳۶)
دپرمختګ رازپه پتلون اونیکټایې اوږیره خریولوکې نسته ....(۴۳۷)
ښه پوه سه چی دکوم نبی ﷺ ....(۴۳۸)
بلکې زموږ دښکته والی اوپرشاتګ اصلی لامل له پردوسره مشابهت دی ....(۴۳۸)
اې مسلمانانو : که پرمختګ غواړی نوپرهغه لارولاړسی په کومه لاره چی دلومړی پیړی خلک تللی دی ....(۴۳۹)
دغرب دجامی اقتصادی پایلی ....(۴۳۹)
حاصل دخبری ....(۴۴۰)
دمشابهت په فساداوتاوانوباندی دعمرفاروق رضی الله عنه وین ....(۴۴۰)
دفارس ومسلمانانوته دعمرفاروق رضی الله تعالی فرمان ....(۴۴۰)
دعیسایې کافرانو په هکله دعمرفاروق رضی الله تعالی عنه فرمان جاری کیدل ....(۴۴۱)
دعمرفاروق رضی الله عنه دفرمان مادی ....(۴۴۲)
داسلامی جامی اولباس پیژندنه ....(۴۴۴)
درسول الله صلی الله علیه وسلم معجزات یادنبوت اورسالت دلائل ....(۴۴۶)

سیف لودین کتابتون

دنبی کریم ﷺ ټولی معجزی څو دی ؟..........(۴۴۸)
معجزه څو قسمه ده..........(۴۴۹)
عقلی معجزی او دنبی کریم ﷺ لومړی عقلی معجزه..........(۴۴۹)
دویمه عقلی معجزه..........(۴۴۹)
په قرآن کریم کې دعوت او دلیل دواړه موجود دی..........(۴۵۰)
دنبی کریم ﷺ دنبوت دریمه عقلی معجزه..........(۴۵۰)
دنبی کریم ﷺ دنبوت څلورمه عقلی معجزه..........(۴۵۱)
دنبی کریم ﷺ دنبوت پنځمه عقلی معجزه..........(۴۵۲)
تر اسلام مخکې پرمخ دځمکی کوم دین خپور وو لومړی مجوسیت..........(۴۵۲)
دنبی کریم ﷺ دنبوت شپږمه عقلی معجزه..........(۴۵۴)
دنبی کریم ﷺ دنبوت اوومه عقلی معجزه..........(۴۵۴)
دنبی کریم ﷺ دنبوت حسی یا په سترګو لیدل سوی معجزی..........(۴۵۴)
خلاصه دخبری..........(۴۵۶)
دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دمعجزو پوره بیان او دمعجزی پیژندنه..........(۴۵۶)
معجزه پردوه قسمه دی یو علمی معجزه او بل عملی یا کاری معجزه دی..........(۴۵۷)
لومړی علمی معجزه : قرآن کریم تر ټولو لویه معجزه دی..........(۴۵۷)
دقرآن کریم داعجاز طریقی او دقرآن داعجاز لومړی وجه..........(۴۵۷)
یو سوال او دهغه ځواب..........(۴۵۸)
دقرآن کریم داعجاز دویمه وجه..........(۴۶۰)
دقرآن کریم داعجاز دریمه وجه..........(۴۶۱)
دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دویمه علمی معجزه حدیث نبوی دی..........(۴۶۱)
درسول الله صلی الله علیه وسلم دریمه علمی معجزه داسلامی امت علماء حق دی..........(۴۶۴)
دنبی کریم ﷺ څلورمه علمی معجزه..........(۴۶۵)
دنبی کریم ﷺ پنځمه علمی معجزه..........(۴۶۵)
درسول الله صلی الله علیه وسلم په هکله دتیرو سویو پیغمبرانو پیش ګویئ یا وړاندوینه..........(۴۶۶)
څو ضروری خبری..........(۴۶۷)
دنبی کریم ﷺ دنبوت الومړي زیریٔ دتورات سفر استثناء باب ۱۸ آیت ۱۸)..........(۴۷۲)
په تورات او نجیل کې داهل کتابو دلاس وهنی یادونه..........(۴۷۴)
خلاصه دخبری دادی چی موسی علیه السلام دبنی اسرائیلو دولسو ۱۲ ډلو ته داوینا وکړه..........(۴۷۴)
ضروری پاملرنه..........(۴۷۷)

سیف لودین کتابتون

دنبی کریم ﷺ دنبوت ۲ زیری په تورات باب اوولسم ۱۷ آیت ۲۰ کتاب پیدائش کښې...... (۴۸۰)
لویه فائده.. (۴۸۲)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۳ زیرئ په تورات سفر استثناء باب درویشتم آیت دویم ۲ کښې..... (۴۸۳)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۴ زیرئ دتورات سفر استثناء باب ۳۲ آیت ۲۱ کښې........ (۴۸۶)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۵ زیرئ دتورات سفرپیدائش باب نه څلویښتم کښې............ (۴۸۷)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۶ زیری په زبورباب پنځه څلویښتم کښې داؤد ؑ ورکړی دی....... (۴۸۹)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۷ زیری داؤد ؑ په زبورکی باب ۱۴۹ کښې ورکړی دی........ (۴۹۵)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۸ زیری زبور باب ۲۷ لومړی درس........... (۴۹۷)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۹ زیری دملاکی ؑ له صحیفی څخه دریم باب اول آیت.......... (۴۹۸)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۱۰ لسم دحبقوق ؑ له صحیفی څخه باب ۳ آیت ۳ .... (۴۹۹)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۱۱ زیری دیسعیاه ؑ له صحیفی څخه باب ۲۱ آیت ۶-۷)........ (۴۹۹)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۱۲ زیرئ دیسعیاه ؑ په صحیفه کښې باب ۲۱ آیت ۱۶-۱۷)........ (۴۹۹)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۱۳ زیرئ دیسعیاه ؑ په صحیفه کښې باب ۲۴ آیت ۲۳)........ (۵۰۰)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۱۴ زیرئ دیسعیاه ؑ په صحیفه کښې باب ۲۸ آیت ۱۳)........ (۵۰۰)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۱۵ زیری دیسعیاه ؑ په صحیفه کښې باب ۴۲ لومړئ آیت........ (۵۰۰)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۱۶ زیرئ دیسعیاه ؑ په صحیفه کښې باب ۲ درس ۱۳)........ (۵۰۶)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۱۷ زیرئ دیسعیاه ؑ له صحیفی څخه باب ۶۰ لومړی درس........ (۵۰۶)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۱۸ زیرئ ددانیال ؑ دکتاب په دریم باب کښې راغلی دی........ (۵۰۹)
دعاتکه بنت عبدالمطلب دخوب بیان........................ (۵۱۱)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۱۹ زیرئ دانجیل متّی په دریم باب لومړی آیت کښې........ (۵۱۲)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۲۰ زیرئ دانجیل متی په ۲۱ باب او آیت ۴۲ کښې........ (۵۱۲)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۲۱ زیرئ دانجیل یوحنا په څورلسم باب پنځلسم آیت کښې........ (۵۱۴)
فارقلیط څه ته وایې ؟.. (۵۱۵)
دنصاری څو پوښتنې او زموږ ځوابونه تر پښتنو مخکښې فارقلیط ښه وپیژنې........ (۵۲۴)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۲۲ زیرئ دانجیل متی په باب دیارلسم او آیت یودیرشم کی........ (۵۲۶)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۲۳ زیرئ دانجیل متی شلم باب لومړی آیت........ (۵۲۷)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۲۴، او ۲۵ زیرئ په انجیل برناباس کښې........ (۵۲۹)
دنبی کریم ﷺ دنبوت ۲۶ زیری له انجیل برناباس داشعیا ؑ له صیحفی څخه........ (۵۳۰)
انباء الغیب یعنی دراتلو نکو پیښو په هلکه دقرآن کریم او حدیث خبرورکول........ (۵۳۰)
دنبی کریم ﷺ دپیش گوئی یاوړاندوینو بیلوالی له نورو انبیاء علیهم السلام څخه........ (۵۳۲)

سیف لودین کتابتون

(١) دقرآن کریم دساتنی او خوندیتوب وړاندوینه .... (٥٣٢)
(٢) پیش گوئی یاوړاندوینه دقرآن کریم اعجاز دی .... (٥٣٣)
(٣) په قرآن کریم کې درسول الله صلی الله علیه وسلم دساتنی وړاندوینه .... (٥٣٣)
(٤) داسلام دغلبی وړاندوینه .... (٥٣٣)
(٥) دروم دبریالیتوب وړاندوینه پر فارسیانو باندی .... (٥٣٣)
(٦) دخلافت راشده وړاندوینه ! دقرآن په رڼا کې .... (٥٣٤)
(٧) دخیبر دفتح وړاندوینه دفارس او روم دفتح وړاندوینه .... (٥٣٦)
(٩) دعربی قبیلو دماتی او مغلوب کیدو وړاندوینه .... (٥٣٧)
(١٠) دمکی دفتح وړاندوینه .... (٥٣٧)
(١١) داحزاب په غزاکې دبریالیتوب خبرورکول .... (٥٣٧)
(١٢) دیهودو په هکله داوړاندوینه چی دوئ به دمرگ تمنانه کوی .... (٥٣٧)
(١٣) دکافرانو په زړوکې دویری اچولو وړاندوینه .... (٥٣٨)
(١٤) له دین داوښتلو فتنه او دهغې دبندیدو خبرورکول .... (٥٣٨)
(١٥) درسول الله صلی الله علیه وسلم دوفات خبرورکول .... (٥٣٨)
هغه وړاندوینی یاپیش گویانی چی دهغو یادونه په احادیثو کې راغلی .... (٥٣٩)
دنبی کریم ﷺ دخیراوبرکت معجزی .... (٥٤٢)
دنبی کریم ﷺ ددعاء دقبولیدلو معجزی .... (٥٤٣)
دنبی کریم ﷺ دشفاء ١٠معجزی .... (٥٤٤)
دنبی کریم ﷺ مړی ژوندی کولو معجزه .... (٥٤٥)
دعیسی علیه السلام معجزی .... (٥٤٨)
دنبوت مقصداو هدف څه وی .... (٥٥٠)
دنصاری یعنی عیسایانو دیبلاری لاملونه .... (٥٥٠)
ددین درې بنیادی اصول .... (٥٥٢)
لومړنی اصل توحید دی ، دالله جل جلاله یووالی منل دی .... (٥٥٢)
دویم اصل دنبوت عقیده ده .... (٥٥٣)
دریم اصل دقیامت عقیده ساتل دی یعنی دسزااوجزاعقیده ساتل لازم دی .... (٥٥٣)
داسلام لارښوونه .... (٥٥٣)
دنبی کریم ﷺ هغه ځانگړتیاوی چی په نورو انبیاء علیهم السلام کې نشته .... (٥٥٤)
دکتاب پای .... (٤٥٦)

سیف لودین کتابتون

بسم الله الرحمن الرحیم

دحمراء الاسدغزا ، دهجرت دریم کال دکوچنی اخترد میاشتی ۱۶ دیک شنبی ورځ

قریش داحدله میدان راووتل اوپه مدینه کې دروحاء په نامه ځای کې میشت سوه دوئ دافکر وکی چی زموږ کارخوپوره نه سوکه څه هم موږ دمحمد ﷺ ډیر ملګری شهیدان اوډیر موژوبل کړه ښه به داوی چی بیرته وګرزو اوپر مدینه منوره باندی ناڅاپه برید وکوو ځکه مسلمان اوس ډیر کمزوری اوژوبل سوی دی دجګړی توان نه لری ، صفوان بن اُمیه دوئ ته وویل چی زه دارایه نه تائیدوم ځکه دمحمد ﷺ ملګری دزخمی زمریانوپه څیر دی کیدای سی چی دوئ په دویم برید کې پرتاسو برلاسی شی ..

دکوچنی اخترپنځه لسم دیک شنبی ماښام وو قریش روحاء ته ورسیدل اودیک شنبی په شپه داخبری اومشوری وسوی دیک شنبی شپه لانه وه تیره سوی چی درسول الله ﷺ خبر راورونکی دسپیده چاودپه وخت کې رسول الله ﷺ ته دقریشو دارادی خبرورکړ رسول الله ﷺ سمدستی بلال ﷺ ولیږی چی په ټوله مدینه کې وګرزه اوداعلان وکوه حی دجګړی لپاره ځانونه تیارکي اویوائي هغه څوک تللای سی چی داحدپه جګړه کې یې برخه درلوده صحابه کرام ﷺ راټول سو جابربن عبدالله ﷺ هم راغلی اوغوښتنه یې وکړه چی یارسول الله ﷺ زماپلار دأحدپه غزاکې شهیدسوی دی دخوندودساتنی له امله زه داحد غزاته حاضرنه سوم اوس ماته دتللو اجازه راکړه رسول الله ﷺ جابر ﷺ ته اجازه ورکړه په دې غزاکې درسول الله ﷺ هدف داوو چی دښمن دافکرونه کوی چی مسلمانان کمزوری سوی دی که څه هم صحابه کرام ﷺ ستړی اوژوبل وو اویوه شپه یې هم آرام نه وو کړی خودرسول الله ﷺ په یوه آواز سره ټول له خپلو کورراووتل ،

دکوچنی اخترشپاړسمه دیک شنبی ورځ له مدینی منوری څخه روان سو رسول الله ﷺ په حمراء الاسد ځای کې ودریدی چی له مدینی منوری څخه اټکلا اته لس میله لیری دی رسول الله ﷺ په حمراء الاسد کې وو چی دخزاعه قبیلی مشر معبدخزاعی دأحد دغمیزی خبراوریدلی وو اودتسلیت لپاره درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو اودرسول الله ﷺ د هغو ملګروتسلیت یې وړاندی کی چی په اُحدکې شهیدان سوی وو معبددرسول الله ﷺ څخه رخصت سو په لاره کې له ابوسفیان سره ولیدل ابوسفیان خپل نظرورښکاره کی چی زماهوډ دادی چی دویم ځلی په مدینه منوره باندی برید وکوم معبدو ویل نه داسی مه کوه ځکه محمد ﷺ له ډیرلوی لښکرسره په تاسوپسی راوتلی دی ابوسفیان چی کله داخبر واوریدی وویریدی اوخپل اراده یې بدله کړه مکی ته روان سو رسول الله ﷺ درې ورځي هلته پاته سو دجمعی په ورځ بیرته مدینی منوری ته ستون سو ،

سیف لودین کتابتون

په دې اړه الله تعالی دا آیت نازل کي : اَلَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلّٰهِ وَالرَّسُولِ مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيمٌ (۱۷۲)سورة آل عمران)

ژباړه : کوموخلکوچی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ خبره ومنله وروسته تردی چی دوئ ژوبل سوی هم وو نوددا سی ښو عملوا وپرهیزګارو لپاره لویه بدله ده ،، فتح الباری جلد۷، صفحه ۲۸۷باب قول الله عزوجل الذین استجابو لله والرسول ،، البدایه والنهایه جلد ۴، صفحه ۴۸ ، زرقانی جلد۲، صفحه ۵۹)

دهجرت ددریم کال بیلابیلی پیښی

لومړی : په همدې کال رسول الله ﷺ دعمرفاروق ؓ له لورحفصه ؓ سره په برات میاشت کې نکاح وکړه (۱)

دویم : په همدی کال دروژی دمیاشتی په ۱۵ امام حسن ؓ پیداسو اوپنځوس ورځی وروسته سیدة النساء ؓ په امام حسین ؓ سره امیدوراه سوه

دریم :په همدې کال دکوچنی اخترپه میاشت کې دشرابو دحرام والی حکم نازل سو (۲)

دهجرت څلورم کال

دابی سلمه عبدالله بن عبدالاسد ؓ سریه دهجرت څلورم کال دمحرم میاشت

دهجرت څلورم کال دمحرم لومړی ورځ وه رسول الله ﷺ ته داخبرورسیدی چی دخویلد زامن طلحه (۳)اوسلمه درسول الله ﷺ دمقابلی لپاره ځانونه چمتوکوی رسول الله ﷺ هم سمدستی ابوسلمه بن عبدالاسد ؓ له دوه نیم سوه مهاجرینواوانصارو ؓ سره ددوئ د مقابلی لپاره ولیږی کله چی دوئ خبرسو نوسره وپاشل سو له دوئ څخه ډیر اوښان ، پسونه ، بزې مسلمانانوپه غنیمت ونیول اومدینی ته یې راوستل اوصحابه کرام ؓ هم مدینی منوری ته راورسیدل کله چی مدینی منوری ته راورسیدل نودغنیمت مال یې وویشی اوپنځمه برخه یې ځنی بیلئه کړه دهرسړی په برخه کې اووه ۷ اووه ۷ اوښان اوپسونه اوبزی ورسیدلی

دعبدالله بن انیس ؓ سریه دهجرت ۴ کال دمحرم میاشت

د محرم په میاشت کې ددوشنبی په ورځ رسول الله ﷺ ته داخبرورسیدی چی خالدبن سفیان هذلی ولحیانی دمسلمانانودمقابلی لپاره لښکرتیاروی رسول الله ﷺ عبدالله بن انیس ؓ ته دهغه وژلودنده وسپارله ،

عبدالله بن انیس ؓ ولاړی اوله خالدسره یې ولیدل په باریکوحیلواوچل سره یې

---

(۱) طبری جلد۳، صفحه ۲۹)

(۲) زرقانی جلد۲، صفحه ۶۱، البدایه والنهایه جلد ۴، صفحه ۶۱)

(۳) طلیحه بن خویلد وروسته په اسلام مشرف سومګرد نبی کریم ﷺ تروفات وروسته بیرته مرتدسو اودنبوت دعوه یې وکړه ابوبکرصدیق ؓ دهغه دمقابلی لپاره خالدبن ولید ؓ ولیږی طلیحه وتښتیدی اوشام ته ولاړی اوبیاوروسته یې بیرته توبه وکښله اوپه اسلام کې داخل سو اودمسلمانانوسره یوځای په جګړوکې شریک سو دعمر ؓ دخلافت په وخت کې دقادسیه اونهاوندپه جګړوکې هم برخه واخیسته ویل

سیف لودین کتابتون

وخت پیداکې اوخالد یې ووژی اوسریې راواخیستی په یوغارکې پټ سو غنه راغله اوځالګی پرجوړه کړه کله چې هغه خلک دغارخولی ته راغلو اودغنی تال یې ولیدی بیرته ولاړل چې دلته څوک نسته ځکه غنی ځاله جوړه کړی ده عبدالله ﷛ دشپې راووتی اودشپې به یې مزل کوی اودورځی به یوځای پټیدی دمحرم په ۲۳ مدینی منوری ته راورسیدی اودخالدسریې درسول اللهﷺ په مخکې کیښود رسول اللهﷺ ډیرخوشاله سو اوپه انعام کې یې یوه لکړه ورکړه اوورته وې فرمایل (تَخَصَّر بِهَذِهِ فِی الجنة فان المختصرفی الجنة قلیل) دالکړه واخله اوجنت ته داخل سه ځکه جنت ته په تلونکوکې دلکړی اخیستونکی ډیرلږدی ..

اودایې ورته وفرمایل چې دازمااوستاپه مینځ کې دقیامت په ورځ یوه نښه ده عبدالله ﷛ به په ژوندکې دهغه لکړی ساتنه کوله دمرګ په وخت کې یې داوصیت وکی چې دالکړه زماپه کفن کې کیږدی اوهمداسی وسو (۱)

دمعجم طبرانی له یوروایت څخه داسی معلومیږی چې خالدبن سفیان ډیربی ادبه اوبدردویونکی هم وو ، معجم الزوائد جلد ۳، صفحه ۲۰۴، باب قتل خالدبن سفیان الهذلی

موسی بن عقبه وایې چې یوشمیرخلک وایې چې رسول اللهﷺ ته دعبدالله بن انیس ﷛ تر راتګ مخکې لادخالدبن سفیان دوژل کیدو خبرورکړل سوی وو (۲)

درجیع پیښه دهجرت څلورم کال دصفری میاشت (۳)

دصفری په میاشت کې دعضل اوقاره څه خلک درسو ل اللهﷺ په خدمت کې حاضراوغوښتنه یې وکړه چې زموږقبیلی اسلام منلی دی نوځکه ته زموږسره داسی څوک ولیږه چې موږته قرآن وښیی اوداسلامی احکاموښوونه راته وکړی رسول اللهﷺ لس تنه له دوئ سره کړه چې دهغوئ نمونه په لاندی ډول دی - ۱. عاصم بن ثابت ﷛.۲. مرثدبن ابی مرثد ﷛.۳ـ عبدالله بن طارق ﷛ ـ ۴ـ خبیب بن عدی ﷛ ـ۵ـ زیدبن وثنه ﷛ ـ ۶ـ خالدبن ابی البَکیر ﷛ ـ۷ـ معتب بن عبید ﷛ ـ ۸ـ دعبدالله بن طارق ﷛ ورور عاصم بن ثابت ﷛ یې پردوی مشر وټاکی (۴) دوئ چې کله درجیع په نامه ځای ته ورسیدل چې دمکی اوعسفان په مینځ کې دی نودې غدارانو له مسلمانانوسره غداری وکړه وبنولحیان ته یې اشاره وکړه دبنولحیان دوه سوه تنه په دوئ پسی راغلل چې په هغوئ کې سل تنه غشی ویشتونکی وو کله چې ورته رانژدی سو نوعاصم ﷛ له خپلو ملګروسره

(۱) الطبقات الکبری لابن سعد جلد ۲، صفحه ۳۵ ، زرقانی جلد ۲، صفحه ۶۳ ، زادالمعاد جلد ۲، صفحه ۱۰۹)

(۲) زرقانی جلد ۲، صفحه ۶۴)

(۳) دادابن سعدروایت دی دبخاری په روایت کې راغلی دی چې نبی کریمﷺ دالس تنه دمکی دقریشو دحال معلومولو لپاره لیږلی وو اوداهم کیدای سی چې مخکې دی نبی کریمﷺ په همدی نیت لیږل خو ورروسته دعضل اوقاره دقبیلی په غوښتنه ددین دښوونی اودقرآن دزدکړی لپاره دانیت هم کی سوی وی ، زرقانی جلد ۲، صفحه ۶۵)

(۴) الطبقات الکبری جلد ۲، صفحه ۳۹۰)

سیف لودین کتابتون

یوی غونډۍ ته پورته سو ، بنولحیان مسلمانانوته وویل تاسوراکښته سی موږپناه درکوو عاصم ﷺ وفرمایل زه دکافرپه پناه هیڅ کله باورنه کوم اودادعاءیې وکړه (اللهم اخبر عنا رسولک) اې الله ﷻ زموږپه حال خپل رسول ﷺ خبرکړې. دارروایت دبخاری دی دابوداؤدطیالسی په روایت کې راغلی دی چې الله تعالی دعاصم ﷺ دعاقبوله کړه اوپه همدغه وخت کې دوحی له لاری رسول الله ﷺ خبرسو اونبی کریم ﷺ هم په دغه وخت کې خپلوملګرو ﷺ ته خبرورکي اوعاصم ﷺ بله دادعاوغوښته (اللهم انی احمی الیوم دینک فاحمی لحمی) اې الله ﷻ زه نن ستاددین ساتنه کوم ته زمادبدن ساتنه له کافرانووکړې .

عاصم ﷺ له خپلوملګروسره له کافرانوسره وجنګیدی ترڅوشهیدسو (۱) عبدالله بن طارق ﷺ اوزیدبن دثنه ﷺ اوخبیب بن عدی ﷺ دادرې سره دمشرکینوپه غوښتنه له ژمنی سره له غونډ ی راکښته سو مشرکینوددوئ لاسونه تړل پیل کړه عبدالله بن طارق ﷺ وویل داستاسولومړنی غداری ده اوپیل په بی لوظۍ کیږی دانه ده معلومه چې وروسته به څه کیږی اوله دوئ سره له تګه یې انکاروکي مشرکینوراکش کی اوهغه یې شهید کي ﷺ اوخبیب ﷺ اوزید ﷺ یې له ځان سره مکی ته راوستل اوپه مکه یې دواړه وپلورل ،

صفوان بن امیه چې دده پلارامیّه بن خلف په بدرکې وژل سوی وو زید ﷺ دخپل پلارپه بدل کې دوژلولپاره رانیوی ، اودبدرپه جګړه کې خبیب ﷺ حارث بن عامروژلی وو خبیب ﷺ دحارث زامنورانیوی، بخاری شریف فتح الباری جلد ۲، صفحه ۲۹۲)

صفوان دخپل بندی په اړه څنډ ونه کي اوزید ﷺ یې دخپل مریي نسطاس سره له حرم دباندی په تنعیم کې دوژلولپاره ولیږی اودوژلودننداری دلیدولپاره یې دقریشیوه لویه ډله په تنعیم کې راغونډه سوی وه چې په دوئ کې ابوسفیان بن حرب هم وو کله چې زید ﷺ ددار وځای ته راوستل سو نوابوسفیان ورته وویل اې زید ﷺ زه تاته په الله ﷻ قسم درکوم اوپوښتنه درڅخه کوم چې آیاته په دې خوښ یې چې ته پریښودل سی اومحمدصلی الله علیه وسلم ستاپه بدل کې ووژل سی اوته په خپل کورکې آرام اوسیږې ؟ زید ﷺ وویل قسم په الله ﷻ که زه داهم خوښوم چې دمحمدصلی الله علیه وسلم په پښه مبارکه دې یواغزی ننوزی اوزه دې په خپل کورکې ناست یم . ابوسفیان وویل قسم په الله ﷻ ماهیچاهیڅوک دومره مینه کونکی اومخلص اوځان قربانونکی نه دی لیدلی لکه څنګه چې دمحمد ﷺ ملګری ﷺ دمحمد ﷺ مینه کوی اوځان قربانوی دی تردی خبرو وروسته نسطاس زید ﷺ شهید کي رضی الله تعالی عنه (۲)

---

(۱) ابن هشام جلد ۲، صفحه ۲۱)

(۲) دجګړی په وخت کې دعاصم ﷺ پرژبه باندی داکلمی جاری وی :

(الموت حق والحیوة باطل ، وکل ماحم الاله نازل ، بالمرء والمرء الیه آیل ، ان لم اقاتلکم قامی هابلْ)

سیف لودین کتابتون

وروسته بیا نسطاس په اسلام مشرف سو ؓ او خبیب ؓ د محرم د میاشتی تر پایه بندی وو کله چی خلکو دده د شهید کیدلو نیت وکي نو خبیب ؓ د حارث له لورچی د زینب له نس څخه چی وروسته بیا مسلمانه سوی ده د صفایي لپاره چاړه وغوښته زینب چاړه ورکړه او په خپل کارکي بوخته سوه زینب وایي چی لږ وروسته ګورم چی زما وړوکی ماشوم د خبیب ؓ په ورانه ناست دی او په لاس کي یې هغه چاړه ده دا حالت چی می ولیدی و بیریدلم خبیب ؓ راته وویل آیا ته په دې ویریږی چی زه به دا ماشوم ووژنم هیڅ کله نه ان شاء الله زما څخه به داسی کار هیڅ کله نه کیږی مو ږ غدرنه کوو او زینب به هر وخت دا ویل (ما رأیت اسیرا قط خیرا من خبیب ؓ لقد رأیته یأ کله من قطعة عنبٍ وما بمکة یومئذٍ ثمرة وانه لموثق فی الحدید وماکان الارزق رزقه الله) ژباړه :ما هیڅ بندی تر خبیب ؓ غوره او ښه نه دی لیدلی رښتیا هم ما خبیب ولیدی چی انګوریي خوړل او سره له دې په دغه وخت کي په مکه کي د میوی نوم هم نه وو او هغه په خپله دا وسپینی په زولنو کي تړلی وو چیری تلای نه سو چی انګوریې راوړی وای دا رزق هغه ته د الله ﷻ له لوری راتلی ..

کله چی د شهید کیدلو لپاره خبیب ؓ له حرم د باندی د تنعیم په نامه ځای ته بوتلل سو نو دایي وفرمایل چی دومره وخت راکی چی زه دوه رکعته لمونځ وکړم قریشو اجازه ورکړه خبیب ؓ دوه رکعته لمونځ وکی او د مشرکینو وخواته یې وکتل او ورته وې ویل چی ما ځکه لمونځ اوږد نه کي چی تاسو دا فکرونه کوي چی زه له مرګ ویریږم نو ځکه اوږد لمونځ کوم تردې خبری وروسته یې لاس پورته کړه او دا دعایې وکړه :

(اللهم احصهم عَدَدًا واقتلهم بَدَدًا ولاتبق منهم احدًا)

اې الله ﷻ دوئ هر یو جلا جلا قتل کړی هیڅوک مه پاته کوی .

وروسته یې دا شعر ولوستی : ولستُ اُبالِي حين اقتل مسلماً .... علی ایّ شق کان لله)

ژباړه : زه هیڅ پروانه لرم کله چی زه مسلمان وژل کیږم که پر هر اړخ مرم کله چی خاص دالله ﷻ لپاره زما غورزیدل وی ..

وذلک فی ذات الاله وان یشاء .... یبارک علی اوصال شلو ممزعِ

ژباړه : دا یوائې دالله ﷻ لپاره دی که هغه وغواړی نو زما بدن زره زره کیدو کي برکت واچوی ..تردې وروسته خبیب ؓ په دار وځړول سو او شهید سو رضی الله عنه ،

او وروسته د مسلمانانو لپاره دا طریقه سوه چی کوم سړی وژل کیږی هغه دې دوه رکعته لمونځ کوی (۱) زید بن حارثه ؓ ته د رسول الله ﷺ په ژوند کي یوه بله پیښه وسوه زید ؓ له طائف راروان وو یوه کچره په کرایه نیولی وه مالک هم ورسره وو په لاره کي کچره ودریده په

---

(۱) زرقانی جلد ۲، صفحه ۲۸)

سیف لودین کتابتون

هغه ځای کې چې دنورو مړو بدنونه پراته وو دقچری مالک دزید ؓ دوژلو اراده وکړه زید ؓ وفرمایل ته ماته ددوه رکعته لمونځ کولو وخت راکړه هغه سړی دمسخری په ډول ورته وویل هوته هم دوه رکعته لمونځ وکړه ترتامخکې خلکوهم لمنځونه کړی دی مګر هغوئ ته لمانځه هیڅ ګټه نده رسولی زیدبن حارثه ؓ چې کله دوه رکعته لمونځ وکې نو هغه سړی دوژلو په نیت دده خوته رانژدی زید ؓ چې کله ولیدی نو دادعایې وکړه: یَاأَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ) اې ترټولو ډیر مهربانی کونکی خدایه ﷻ، زید ؓ لادا کلمه نه وه پوره کړې چې یو غیبی آواز واوریدل سو (لاتقتله) مه یې وژنه . هغه سړی ددې ږغ په اوریدو سره وویریدی یوی اوبلی خواته یې وکتل خو هیڅوک یې ونه لیدی نو بیاپه هغه ناپاکه اراده دزید ؓ وخواته راغلی زید ؓ بیاوویل یَاأَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ : ودې سړی ته بیاغیبی آواز وسو بیاسړی دمخکی په څیر یوی اوبلی خواته وکتل خوڅوک نه وو دریم ځل بیاپه همدې نیت رامخ ته سو زید ؓ بیاوویل یَاأَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ ددریم ځل په ویلو سره یو سپور راورسیدی اوپه لاس کی یې نیزه ده اودنیزی په سرکې داورلمبه ده هغه سړی نیزه په دې کافرننه ایستله اودهغه کافرترشاووته اوپرهمدغه ځای مړسو وروسته سپاره وزید ؓ ته وویل چې کله چې تااول ځل یاارحم الراحمین وویل زه په اووم اسمان کې وم اوکله چې تادویم ځل وویل نوزه ددنیاپه اسمان کې وم او کله چې تادریم ځل ویل نوزه تاته راورسیدم ،(داروایت علامه سهیلی په خپل سندسره راوړی دی علامه فرمایې چې دزید ؓ بن حارثه داپیښه درسول الله ﷺ په ژوند کې سوی ده (۱)

دحاکم په مستدر ک نامی کتاب کې له ابو امامه ؓ څخه روایت سوی دی وایې : چې رسول الله ﷺ وفرمایل : دالله ﷻ له لوری یوه فرشته امر سوی ده کوم سړی چې درې ځله یاارحم الراحمین ووایې نوهغه فرشته دده په ځواب کې وایې ارحم الراحمین ستاخواته متوجه دی غواړه څه غواړی ؟

اوبله همداسی پیښه دابومعلق انصاری ؓ ده ددې پیښې روایت له ابی بن کعب ؓ اوانس بن مالک ؓ څخه سوی دی دوئ وایې چې درسول الله ﷺ په صحابه ؓ ووکې ابومعلق انصاری ؓ ډیرپرهیزګاراوډیرعبادت کونکي ووده تجارت کوی اودتجارت لپاره به یې سفرونه هم کول یوځل په لاره کې یو غل ورباندی پیښ سو له غله سره توره اونیزه اوغشی وو ښه پوره وسلوال وو غله ودته وویل مال دلته کیږده زه تاوژنم ؟

ابومعلق انصاری ؓ ورته وویل ستاهدف خوبه مال وی هغه تاته حاضردی زماله مرګ سره ستاڅه ، غله ورته وویل نه زماهدف ستاوژل دی ؟ ابومعلق ؓ ورته وویل ښه ته مادومره وخت راکړه چې زه لمونځ وکړم ؟ غله ورته وویل هوڅومره لمونځ چې غواړی

سیف لودین کتابتون

کولای یې سی ، ابومعلق ﷺ اودس وکي اولمونځ یې وکی اوله لمانځه وروسته یې دادعاء وغوښته (یَاوَدُودُ یَاذُوالعَرشِ المجید یافعال لماترید اسألک بعزتک التی لاترام وملکک الذی لایضام وبنورک الذی ملأ ارکان عرشک ان تکفینی شر هذا اللص یامغیث اغثنی)

درې ځله یې دادعاوغوښته ناڅاپه یوسپورنیزه په لاس راورسیدی اوپرغله یې برید وکي غل یې په نیزه سوری سوری کي تردې وروسته معلق ﷺ سپاره ته وویل ته څوک یې ؟ سپاره وویل زه الله تعالی ستادفریادرسۍ اومرستی لپاره رالیږلی یم زه دڅلورم اسمان فرشته یم کله چی تااول ځل دعاوغوښته نوماداسمان ددر وازو دټکولوږغ واوریدی اوکله چی تادویم ځل دعاوغوښته نومادااسمانووالاوو چیغی اوناری واوریدلی اوکله چی تادریم ځل دعاوغوښته نودامی واوریدل چی دادکوم غم ځپلی اومحتاج اوپه غم اخته سوی دعاده په دغه وخت کې ماله الله تعالی څخه وغوښتل چی زه دهغه په خلاصون باندی مامورسم وروسته سپاره وویل تاته زیری درکوم اوته دی خوشاله یې اوداپه یادلره چی کوم سړی اودس وکوی اوڅلورركعته لمونځ وکوی اودادعُاوغواړی دهغه دعاقبلیږی که هغه په غم اوبی وسی کې اخته وی اوکه نه وی ، (اصابه جلد ۴، صفحه ۱۸۲ ترجمه ابومعلق انصاری ﷺ باب الکنی)

داحدپه غزاکې عاصم ﷺ دسلافه بنت سعیددوه زامن وژلی ووله دې امله سلافه ویلی وو چی دعاصم ﷺ دسرپه کاسه کې به هرومروشراب څیښم ځکه دهذیل قبیلی څه خلک دعاصم ﷺ له شهادت وروسته دده دسرړلولپاره ورغلو ددې لپاره چی په سلافه باندی یې خرڅ کړی اوددوئ دغوښتنی په اندازه بدله ځنی واخلی ، امام طبری فرمایې چی سلافه دااعلان کړی وو چی څوک دعاصم ﷺ سر ورته راوړی هغه ته به سل اوښان بدله ورکوم ، خوعاصم ﷺ بیادخپل بدن دساتنی غوښته له الله ﷻ څخه مخکې لاکړی وه الله ﷻ ددښمنانو څخه دهغه دبدن ساتنه وکړه ځکه دسرومچیو یوه ډله راغله اودعاصم ﷺ دبدن پرشاوخواراوګرزیده هیڅ کافروهغه ته نه سو ورنژدی کیدای په دغه وخت کې یوه وویل راځي چی ځنی بیل سو کله چی ماښام سی بیابه راسو اودامچی به لیری سوی وی بیابه سرځنی غوڅ کړو مګر کله چی شپه سوه یوسیلاب راغلی دعاصم ﷺ لاش یې په سیند کې لاهوکي اوټول کافران ناکامه اوزیانمن نا امیده ولاړو ،، له قتاده ﷺ څخه روایت دی چی عاصم ﷺ له الله تعالی سره داژمنه کړی وه چی نه به زه کوم مشرک ته لاس وروړم اونه به هیڅ مشرک ماته لاس راوړی ، دعمرفاروق ﷺ مخ ته به چی کله دعاصم ﷺ یادونه وسوه نوده به ویل چی الله تعالی دیوشمیرخاصوبندګانو ساتنه له مرګ وروسته هم کوی لکه چی په ژوند کې یې ساتنه کوی (۱)

(۱) زرقانی جلد۲ /صفحه /۷۳، فتح الباری جلد۷ /صفحه ۲۹۵)

سيف لودين كتابتون

دمکی مشرکينو دخبيب ؓ بدن په دار ځړيدلی پريښودی، رسول الله ﷺ زبير ؓ او مقداد ؓ
دهغه دبدن دراوړلو لپاره له مدينی څخه مکی ته وليږل کله چی دوئ دواړه دشپی تنعيم ته
ورسيدل نووې ليدل چی څلويښت تنه دهغه پربدن پيره کوی اودوئ ددار پرشا وخوا پراته
دی زبير ؓ او مقداد ؓ دوئ وليدل چی ويده دی نوسمدستی يې دخبيب ؓ بدن له داره
راښکته کي اوپه آس باندی يې کيښودی دده مبارک بدن هغه رنګ تروتازه وو هيڅ بدلون
نه ووپکی راغلی سره له دی چی دشهادت يې څلويښت ورځی پوره سوی وی مشرکين
چی کله راويښ سو نووی ليدل چی دخبيب ؓ بدن نسته ورک سوی دی هری خواته په
منډو سول آخر دا چی زبير ؓ او مقداد ؓ يې ګيرکړه زبير ؓ دخبيب ؓ بدن له آس راکښته
کی سمدستی ځمکه وچاودېده اودده مبارک بدن په کښی ننوتی ځکه خبيب ؓ په بليغ
الارض سره مشهوره دی (۱)
په يوروايت کې راغلی دی کافرانو چی کله خبيب ؓ شهيد کي نودده مخ مبارک دقبلی
ولوری ته سو هغه يې له قبلی راواړوی دده مخ بيرته قبلی وګرزيدی ډير ځله يې داسی
وکړل خوآخريې پريښودی

(ف) **لومړی مسئله**: دوژلوپه وخت کې لمونځ کول سُنت دی ددی لپاره چی خاتمه
ترټولوپه غوره اوښه عبادت باندی وسی لکه چی په يوحديث شريف راځی (اذاقمت فی صلاتک
فصل صلاة مودّع ، الحديث رواه احمد عن ابی ايوب ؓ) (۲)
کله چی ته لمونځ کوی نودد نيا درخصتيدونکی په څيرلمونځ کوه

دويمه فايده: دعاصم ؓ داسی عجيبه اونااليدلی ساتنه اودخبيب ؓ دانګوروخوړل پرته
له څه ظاهری سببه اوخلکوپه خپلوسترګوليدل اودزيدبن حارثه ؓ اوابومعلق انصاری
ؓ پيښه دا ټول ددی دليل دی چی داولياء الله کرامتونه حق دی اوپردی دټولواهل السنت
والجماعت اجماع ده دتفصيل دپاره کتب کلاميه اوپه ځانګړی توګه طبقات الشافعية
الکبری له جلد ۲، صفحه ۵۹ بياتر ۶۸ پوری وګوری)

دريمه فايده: دخبيب ؓ داکرامت دمريم (ع) له کرامت سره مشابه دی چی هغه الله ﷻ په
سورت آل عمران کې ذکرکړی دی : كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ
هَٰذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ (سورة آل عمران آيت ۳۷)
کله چی زکريا ؑ دمسجدومحراب ته په مريم باندی داخل سو نوددې وڅنګ ته يې
نابلده خوراک وليدی ده ورته وويل اې مريم داروزی دی له کومه کړه ؟ نومريم په ځواب
کې ورته ويل چی داروزی دالله ﷻ له لوری راغلی ده اوالله ﷻ چی وغواړی پرته دچاله ګمان
روزی ورکوي ..

(۱) البدايه والنهايه جلد /۴ /صفحه /۷۳، فتح الباری جلد /۴ /صفحه ۶۷)

سیف لودین کتابتون

څلورمه فایده : کوم سړی ته چی مرګ نژدی سی دهغه لپاره دویښتانو اونوکانو جوړول مستحب اوغوره کاردی لکه خبیب ؓ چی ترشهادت مخکې چاړه وغوښته اودالله ﷻ ودربارته تروړتلو مخکې یې طهارت اوپاکی لازمی وګڼله .

پنځم فایده : که مسلمان دکافرپه بندیخانه کښې وی اودکافران دهغه لپاره دشهادت تیاری کوی نودمسلمان دانده روا چی دوخت په پیداکولوسره دهغه ماشومان ووژنی بلکې له دوئ سره په مینه اومحبت راشه درشه وکړی خبیب ؓ دحارث لمسی دمهربانۍ په ډول پروړنوکښینولی وو

دقُرّاء سریه یعنی (دمعونه دڅاه پیښه دهجرت څلورم کال دصفری میاشت(۱)

دهجرت څلورم کال دصفرپه میاشت کې داپیښه وسوه عامربن مالک ابوبراء درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو هدیه اوډالۍ یې رسول الله ﷺ ته وړاندی کړی مګر رسول الله ﷺ هغه قبولی نه کړی اوابوبراء ته یې داسلام بلنه ورکړه مګر ابوبراء اسلام نه ومنی اونه یې ردکې بلکې دایې وویل چی که ته خپل څوملګری دنجدوخواته داسلام دبلنی لپاره ولیږې نوزه امیدلرم چی هغوئ به دابلنه ومنی رسول الله ﷺ وفرمایل زه دنجدله خلکوپه ویره اوانديښنه کې یم ، ابوبراء وویل زه ستادملګرودساتنی ضامن یم ، رسول الله ﷺ اویا ۷۰ صحابه کرام ؓ چی ټول دقرآن قاریان وو له ده سره ولیږل منذربن عمرو ساعدی ؓ یې ددوئ مشروټاکې دې ډپرهیزګاره ټولۍ به دورځی لرګی راوړل اوخرڅول به یې داصحابه صفه لپاره به یې خوراک په راوړی اودشپی په څه برخه کې به یې قرآن وایو اوڅه برخه به یې په تهجداوقیام اللیل تیروله دوئ له مدینی منوری څخه روان سو اومعونه څاه ته ورسیدل هلته میشت سو رسول الله ﷺ یولیک دعامربن طفیل په نامه چی دعامرقبیلی مشروو اودابوبراء وراره وو ولیکی اودانس ؓ ماما حرام بن ملحان ؓ ته یې وسپاري کله چی صحابه کرام ؓ معونه څاه ته ورسیدل(۱) نوحرام بن ملحان ؓ درسول الله ﷺ لیک عامر بن طفیل ته ورسوی عامربن طفیل دلیک له کتلو مخکې یو سړی ته دهغه دشهادت اشاره وکړه هغه دشاله لوری په نیزه ووهی هغه نیزه ترده پوری ووتله دحرام بن ملحان ؓ له ژبی مبارکی څخه داالفاظ ووتل (الله اکبرفُزتُ وَرَبِّ الکعبة) الله ﷻ لوی ذات دی په رب دکعبی دې زماقسم وی زه کامیاب سوم ..

اونوربنی عامر یې دصحابه کرام ؓ په شهادت باندی راپورته کړه مګر دعامرکا ابوبراء دضمانت له کبله ددوئ له مرستی انکاروکې عامربن طفیل چی کله له دوئ څخه ناهیلی

---

(۱)دمعونه څاه دمکی اوعسفان په مینځ کې پروت دی دهذیل ، اوبنی سلیم ، اوبنی عامر ددې پر شاوخواآباددی)

سیف لودین کتابتون

سو نو دنبی سلیم څخه یې مرسته وغوښته ، عصیه ، رعل ، او ذکوان قبیلې دهغه د مرستې لپاره تیاری سوی او ټولو پر یوه ځای داصحابه ﷺ پرته له څه زیان شهیدان کړه یوازې کعب بن زید انصاری ﷺ ژوندی پاته سو ځکه دوئ فکروکي چې هغه هم شهید سوی دی خو په ده کې د ژوند څه ساه پاته وه وروسته هغه په هوش کې راغلی او تر ډیره وخته پورې ژوندی وو د خندق په غزاکې بیا شهید سو ﷺ او له هغه پرته دوه نور صحابه ﷺ هم پاته سو دیوه نوم منذر بن محمد ﷺ او دبل نوم عمرو بن امیه ضمیری ﷺ وو دوئ دواړه د پسو پیولو لپاره زنګله ته تللی وو کله چې دوئ نژدې راغلل نو ناڅاپه یې د اسمان خواته مرغان ولیدل دوئ چې کله مرغان ولیدل وویریدل اووې ویل چې خامخا څه خبره سته کله چې ښه رانژدې سو نووې لیدل چې خپل ټول ملګری یې په وینو کې لت پت د شهادت پر بستره باندی ویده دی دواړو په خپل مینځ کې مشوره وکړه چې څه باید وکړو عمرو بن اُمیه ﷺ وویل مدینی ته ځو او رسول الله ﷺ ته خبر رسوو منذر ﷺ وویل خبر خو به خامخا رسیږی شهادت ولی پریږدو لنډه دا چې دوئ ورمخکې سو منذر ﷺ خو په جنګ کې شهید سو او عمرو بن امیه ﷺ دوئ ژوندی ګیرکي او عامر بن طفیل ته یې وسپاری عامر دهغه د سر خوویښتان پریکړل پریښودی او دایې وویل چې زما مور دیوه مریي د ازادولو نذر پر ځان ایښی وو نو زه هم په هغه نذر کې تا آزادوم (زرقانی جلد ۲، صفحه ۷۷)

په دې پیښه کې دابوبکر صدیق ﷺ آزاد سوی مریئ عامر بن فهیره ﷺ هم شهید سو او دهغه جنازه فرشتو اسمان ته پورته کړه کله چې عامر بن طفیل له خلکو پوښتنه وکړه (من الرجل منهم لما قتل رأیته رفع بین السماء والارض حتی رأیت السماء من دونه) په مسلمانانو کې هغه څوک دی کله چې ووژل سو نو ما ولیدی چې دهغه مړی د اسمان او ځمکې په مینځ کې پورته سو تر دی پورې چې آسمان لاندې پاته سو ؟

خلکو ورته وویل هغه عامر بن فهیره ﷺ وو

او دبخاری په یو روایت کې راځی چې عامر بن طفیل وویل (لقد رأیته بعد ما قتل رفع الی السماء حتی انی لانظر الی السماء بینه وبین الارض ثم وضع) په تحقیق سره ما هغه سړی ولیدی چې دوژل کیدو وروسته دده بدن مبارک اسمان ته پورته سو کله چې د اسما ن او ځمکی مینځ ته ورسیدی نو بیرته پر ځمکه کیښودل سو

جبار بن سلمی چې دعامر بن فهیره ﷺ قاتل دی هغه په خپله وایې کله چې ما عامر بن فهیره ﷺ په نیزه ووهی نو په دغه وخت کې دهغه له ژبې دا توری ووتل (فُزت والله) قسم په الله ﷻ زه خپل هدف ته ورسیدم ،، ماچې کله دا توری واوریدل ډیر حیران سوم او په زړه کې می وویل چې کوم هدف او مقصد ته ورسیدی ضحاک بن سفیان ﷺ ته راغلم او دا پیښه مې

سیف لودین کتابتون

ورته بیان کړه ضحاکؓ راته وویل چې د فهیرهؓ مراد داوو چې جنت مې پیداکې کله چې ماداواوریدل زه هم سمدستي مسلمان سوم اوزماداسلام راوړو لامل داسو چې ماعامربن فهیرهؓ ولیدی چې هغه اسمان ته پورته کړل سو

ضحاکؓ داپیښه ولیکله اورسول اللهﷺ ته یې ولیږله، رسول اللهﷺ وفرمایل :(ان الملائکة وارث جثته فی علیّین) فرشتو دده بدن په علیین کې کیښودی .:(۱)

اوپه یوروایت کې راغلی دی چې دهغه بدن مبارک ملائکوپټ کی اومشرکینوونه لیدی چې دهغه بدن چیری ولاړی په دې روایت کې د(ثم وضع) لفظ نه دی کرسوی لکه چې دبخاری په روایت کې وو امام (رح) فرمایې چې په دې دواړوروایتوکې تعرض نسته کیدای سی چې دهغه مبارک بدن دی لومړی اسمان ته پورته سوی وی اوبیادویم ځل دی پرځمکه ایښودل سوی وی اوعلامه سیوطی فرمایې چې د(ثم وضع) لفظ په یوشمیرروایاتوکې راغلی دی اوپه ډیرروایاتوکې اوسندوکې داسی راغلی دی چې دهغه بدن په اسمان کې پټ سو ، موسی بن عقبه وایې چې عروه بن زبیرؓ ویل چې دعامربن فهیرهؓ بدن هیچری هم نه دی موندل سوی دخلکودافکردی چې ملائکودهغه بدن په اسمان کې کیښودی (۲)

رسول اللهﷺ چې کله له دې پیښې خبرسو نودومره غمجن سو چې په ټول ژوندکی دومره غم نه وو وروته رسیدلی اوتریوی میاشتی پوری به یې دسهارپه لمانځه کې قنوت نازله ویل اودهغوقاتلانوپه حق کښې به یې ښیراکوله اوصحابهؓ ته یې دهغه پیښې خبرورکې چې ستاسوخواړه ملګریؓ اودوستان شهیدان سو اودوئ له الله ﷻ ځخه داغوښتنه کړې وه چې زموږ وروڼوته داپیغام ورسوه چې موږ له خپل ربَ سره یوځای سو اوله هغه ځخه راضي یو اوزموږرب له موږ ځخه راضی دی

دبنی النضیر غزا دهجرت په ځلورم کال دلومړی خور په میاشت کی

عمروبن امیه ضمریؓ چې له بیرمعونه ځخه مدینی ته راتلی نوپه لاره کې دنبی عامردوه مشرکین ورسره ملګری سو ، کله چې دوئ دقناة په نامه ځای ته ورسیدل نوپه یوه باغ کې دمه وکړه له دمی کولوورووسته دوئ دواړه بیده سو عمروبن امیهؓ دافکروکې چې ددې قبیلی مشرعامربن طفیل خوزموږاویا۷۰ملګریؓ شهیدان کړه دټولوبدله خواوس نه سی اخیستل کیدای دیوشمیربدله خوبه واخلم ځکه یې دوئ دواړه ووژل رسول اللهﷺ له دوئ سره عهداولوظ کړی وو مګر عمروبن امیهؓ په هغه لوظ نه وو خبر کله چې عمروبن امیهؓ مدینی ته راورسیدی نوټوله پیښه یې رسول اللهﷺ ته بیان کړه رسو ل اللهﷺ وفرمایل له دوئ سره خوموږعهداولوظ وو بایددوئ پور ورکړو رسول اللهﷺ ددوئ دواړودیت ورکې (۳)

(۱) الخصائص الکبری جلد ۱ /صفحه ۲۲۳)
(۲) الخصائص الکبری جلد /۱صفحه /۲۲۴)
(۳) فتح الباری جلد ۷ /صفحه / ۲۵۴)

سیف لودین کتابتون

بني نضير هم دبني عامر حليفان وو ځکه دمعاهدی له مخی بايدديت څه برخه بنونضيرهم ورکړی ددې په اړه رسول اللهﷺ دمرستی لپاره بنونضيرته ورغلی له رسول الله ﷺ سره ابوبکرؓ اوعثمانؓ اوزبيرؓ اوطلحهؓ اوعبدالرحمن بن عوفؓ اوسعدبن معاذؓ اواسيدبن حضيرؓ اوسعدبن عبادهؓ اونورصحابهؓ هم ملګری وو دوئ بني نضيرته ورغلو اودديواله تريوه سايه لاندی کښيناستل بنونضيرخوپه ښکاره اوړاخ تندی ومنله اوپه ديت کې دګډون اومرستی ژمنه يې و کړه مګر په خپل مينځ کې پټه دامشوره وکړه چې يوسړی دی بام ته وخيژی اوله لوړی خوادی يوه غټه ډبره راوغورزوی ددې لپاره چې درسول اللهﷺ پرسرومولښلی اوهغه شهيدسی ، سلام بن مشکم ووېل (لاتفعلوا والله ليخبره ربه وانه لنقض العهدالذی بيننا وبينه) داکارمه کوی قسم په الله ﷻ ده ته به دده رب ﷻ خبرورکړی اوربښتياهم داهغه ژمنی ماتول چی زموږ اودده په مينځ کې ده ..

لږوروسته جبرائيلؑ راغلی اورسول اللهﷺ يې ديهودوله مشوری خبرکې رسول اللهﷺ سمدستی ولاړسو .اوله هغه ځايه ولاړی مدينی ته اوداسی ولاړسو لکه يوډيرضروری کارچی ورته پيښ سوصحابه کرامؓ هلته ناست وو يهودچی کله دنبی کريمﷺ په تګ خبرسو نوپرخپل کارډيرپښيمانه سو ،

کنانه بن حويراء يهودی ووېل تاسوپه دې پوهيږی چی محمدﷺ ولی ولاړسو ، قسم په الله ﷻ هغه ستاسوپه غداری خبرسو (۱) قسم په الله ﷻ هغه دالله ﷻ رسولﷺ دی

کله چی رسول اللهﷺ وځنډيدی نوصحابه کرامؓ دهغه په لټون کې مدينی ته راغلل ، رسول اللهﷺ ديهودو دغداری ځخه خبرکړل اوپه بنونضيرباندی يې دبريد کولوامرو کې ، عبدالله بن اُم مکتومؓ يې دمدينی خليفه وټاکی اورسول اللهﷺ له خپلوملګروسره دبنونضيرخواته روان سو کله چی مسلمانان ورسيدل بنی نضيريې محاصره کړه نضيرپه خپلو کلاګانونوتل اودروازی يې ور پسی بندی کړی څه ددوئ په خپلو کلکو کلاګانو باندی يقين وو اوبل عبدالله بن ابی اونورومنافقينوداپيغام ورليږلی وو چی موږستاسومرسته کوو دوئ نورهم په ځان خطاوتل مګر دهغوئ له لوری دمسلمانانودمقابلی لپاره دهيڅادورتلوهمت نه وو اوله دې غداری پرته بنونضيرو يوه بله غداری هم وکړه هغه داچی رسول اللهﷺ ته يې پيغام وليږی چی درې تنه له ځان سره راوله اوزموږله درې عالمانوسره به خبری وکوی که هغوئ ايمان راوړی نوموږهم ايمان راوړو خوپه خپل منيځ کې يې دامشوره کړې وه چی دادرې عالمان دی له ځان سره خنجرونه پټ کړی کله چی وخت پيداکې نوزسول اللهﷺ دی په شهادت ورسوی مګر رسو ل اللهﷺ ته دهغوئ ددې چل خبرمخکې لاورکړل سو (رواه ابن مردويه باسنادصحيح)

---

(۱) ابن عقبه وايې چی داآيت هم په همدی اړه نازل سو (ياايهاالذين آمنوا اذکرونعمة الله عليکم اذهم قوم ان يبسطوا اليکم ايديهم ، الاية عيون الاثرجلد ۲ /صفحه ۴۸)

سيف لودين كتابتون

لنډه داچې دبنونضيرودډير غدرله کبله رسو ل الله ﷺ پردوئ بريدوکي اوترپنځلس ورځوپورې يې دوئ ايسارکړل اوددوئ دباغواوونودپريکولواوسوځولوامريې وکې آخر دوئ ناامیده اوزیانمن سو اودامن غوښتنه يې وکړه ، رسول الله ﷺ لس ورځي وخت ورکي چې مدينه پرېږدی اوخپلې کورنۍ اوښځي اوماشومان چې کوم ځای ته غواړي هلته بیولای سی پرته له جنګي سامان څومره سامانونه چې پراوښانوورل کیږي دهغه اجازه ده ، يهوديانو دمال په حرص اوطمع کې دکورودورازی اودرشلونه هم وایستل په اوښانويې بارکړل اووې وړل اومدينه منوره له ناپاکوپاکه سوه اوله مدینی وشړل سو ډیر يهودخيبرته ولاړل اوهلته ميشت سول اويوشميريې شام ته ولاړل اوددوئ مشرحيي بن اخطب اوکنانه بن ربيع اوسلام بن ابی الحقیق هم په هغوخلکووو کوم چې په خيبرکې میشت سول رسو ل الله ﷺ ددوئ مالونه اوسامانونه په مهاجرو وویشل ددې لپاره چې پرانصارو رضی الله عنهم دمهاجرو رضی الله عنهم بارسپک سی که څه هم انصارو رضی الله عنهم دخپل اخلاص اوقربانۍ په بناء باندی دابار بار نه بلکې دسترګویخوالي اودزړه تازوالي ګڼي مګررسول الله ﷺ انصار رضی الله عنهم راغونډکړل اووعظ یې ورته وکي دحمداوثناویلووروسته یې د انصارو رضی الله عنهم له مهاجرينو رضی الله عنهم سره دښه چلنداواحسان یادونه وکړه او دهغه ستاینه یې وکړه او وروسته يې وفرمايل چې اې انصارو رضی الله عنهم اومهاجرو رضی الله عنهم که تاسوغواړی نوزه به دبنونضيرمالونه پرتاسو اومهاجرينو رضی الله عنهم برابروویشم اودمخکې په څیربه مهاجرين ستاسوسره شریک وی اوکه موخوښه وی نويوائی به يې پرمهاجرينو رضی الله عنهم وویشم اوهغوئ به ستاسوکورونه خالی کړی ، سعدبن عباده رضی الله عنه اوسعدبن معاذ رضی الله عنه دانصارو رضی الله عنهم مشران وو دوئ وویل یارسول الله ﷺ موږبه ډیر ه خوشالي په دې باندی راضی يو چې مال يوائی پرمهاجرينوویشی اودمخکې په څیرمهاجرين زموږبه کوروکې اوسيږی اوپه خوراک اوڅښاک کې له موږسره شریک وی .

په يوروايت کې راځي چې انصارو رضی الله عنهم غوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ دامال خوته يوائي په مهاجرينووویشه اوزموږله مالواوځمکوڅخه چې څومره ته غواړی هغه هم په مهاجرينوباندی وویشه موږبه ډیره خوشالۍ سره په دې باندی خوښ يو ، رسول الله ﷺ چې ددوئ داځواب واوریدی ډیر خوشاله سو اودادعاء یې وکړه : (اللهم ارحم الانصار وابناء الانصار) اې الله ﷻ په انصارو رضی الله عنهم اودانصارو رضی الله عنهم په اولادوخپله خاصه مهربانی وکړی ،

ابوبکرصدیق رضی الله عنه داوفرمايل :

(جزاکم الله خيرايامعشر الانصار فوالله مامثلنا ومثلکم الا کماقال الغنوی .. قال الغنوی : جزی الله عناجعفراً حين ازلقت ... نبانعلنافی الواطئين فزلّت)

سیف لودین کتابتون

اې انصارو رضي الله عنهم الله تعالى دى تاسو ته ښه بدله درکړى قسم په الله ﷺ زموږ او ستاسو مثال داسى دى لکه څنګه چى غنوى شاعر ويلى دى ، هغه ويلى دى الله تعالى دى جعفر ته ښه بدله ورکړى چى کله زموږ قدم وښويدى او هغه په لغزش کې سو

ابوا ان يملون ولو ان امنًا .... تلاق الذى يلقون منًا لملت)

نو موږ د مرستى او خبر اخيستلو څخه په تکليف نه سو او ستړى نه سو بالفرض که زموږ مور ته داپيښه سوى واى نو کيداى سى چى هغه به ستړى سوى وه ..

رسو ل الله ﷺ ټول مال په مهاجرينو رضي الله عنهم وويشى او له انصارو رضي الله عنهم څخه يې يوائى ابودجانه رضي الله عنه او سهل بن حنيف رضي الله عنه ته دلاس دتنګى په وجه برخه ورکړه

په دې غزاکې له بنونضير څخه يوائى دوه تنه مسلمانان سو يو يامين بن عمرو رضي الله عنه او بل ابو سعيد بن وهب رضي الله عنه دهغوئ مالو او سامانونه روغ پاته سو اودوئ پرخپلو جايدادو پاته سو او سورة حشر په دې غزاکې نازل سو چى هغه ته به عبدالله بن عباس رضي الله عنه سورة بنى نضير ويل ، په دې سورت کې الله تعالى دمال فئ حکمونه او مصارف بيان کړى دى ، والله تعالى اعلم وعلمه اتم دتفصيل لپاره زرقانى له صفحه ٨٠ بياتر ٨٦ او فتح البارى جلد ٧ /صفحه /٢٥٤ بياتر ٢٥٥ او البدايه والنهايه جلد ٤ صفحه ٧٤ بياتر ٨٠ پورى وګورى

ابن اسحاق ليکى چى دشرابو دحراموالى حکم هم په همدى غزاکې نازل سو .

دذات الرقاع غزا دهجرت څلورم کال ددريمى خور مياشت

دبنو نضير له غزا وروسته له لومړى خور څخه بيا ددريمى خور ترپيل پورى رسو ل الله ﷺ په مدينه منوره کې پاته سو ددريمى خور په سرکې رسو ل الله ﷺ ته داخبر ورسيدى چى بنى محارب (١) او بنى ثعلبه دمسلمانانو دمقابلې لپاره لښکر تيار وى ، رسول الله ﷺ څلورسوه (٢) صحابه رضي الله عنهم له ځان سره ملګرى کړه او دنجد و خواته ولاړى کله چى دوئ نجد ته ورسيدل نو دغطفان قبيلى له څه خلکو سره مخامخ سو مګر جګړه ونه سوه رسول الله ﷺ په همدى غزاکې دويرى لمونځ وکي (٣)

ابو موسى اشعرى رضي الله عنه فرمايې چى ودې غزاته ذات الرقاع ځکه وايې چى رقاع معنى ده ټوټى او ټکړى په دې غزاکې په تلوتلو سره زموږ پښې وچاودېدلې موږ خپلو پښو ته ټوټى ومښلولى ځکه ذات الرقاع ورته وويل سو يعنى دټوټو او ټکړو غزا (بخارى شريف)

ابن سعد وايې چى ذات الرقاع ديوه غره نوم دى چى رسول الله ﷺ په همدى غزاکې هلته کښته سوى دى په هغه غره کې تورى سپينى ، او سرى نښې وى (٤)

---

(١) بنى محارب او بنى ثعلبه دغطفان قبيلې دوه ښاخونه دى)
(٢) په يوه روايت کې راغلى دى چى اووه سوه او په بل کې اته سوه راغلى دى زرقانى)
(٣) ابن سعد وايې چى لومړنى صلوة الخوف وو عيون الاثرجلد ٢ /صفحه /٥٢)

سیف لودین کتابتون

کله چې دوئ بیرته له نجد څخه راتلل په لاره کې یې دمه وکړه رسول اللهﷺ دیوې ونې وسیوری ته ویده سو او توره یې په ونه پوری وځړوله یو مشرک له غره ورته کتل رسول اللهﷺ یې یواځې ولیدی پټ راغلی او د رسول اللهﷺ توره یې راواخیسته او ودریدی او رسول اللهﷺ څخه یې پوښتنه وکړه چې وایه اوس به تاله ما څخه څوک وژغوری ؟ رسول اللهﷺ په داډه زړه ځواب ورکې ـ اللهﷻ ـ

دادبخاری روایت دی دابن اسحق په روایت کې راغلی دی چې جبرائیل امین هغه مشرک په سینه کې ووهی سمدستی دهغه له لاسه توره ولویده او رسول اللهﷺ پورته کړه اووې فرمایل وایه تابه زماله لاس څوک وژغوری ؟ مشرک وویل هیڅوک هم نه ، رسول اللهﷺ وفرمایل : ښه ځه ولاړسه مابښلی یې ، واقدی وایې داسړی مسلمان سو او خپلی قبیلی ته ولاړی او داسلام دعوت یې وکي او ډیر خلک دهغه په بلنه مسلمانان سو ، په صحیح بخاری کې راغلی دی چې دهغه سړی نوم غورث بن حارث وو ..

(**یادونه**) داسی بله پیښه دغطفان په غزاکی په کال دریم هجری کې هم سوی ده یوشمیروایې چې همدا پیښه ده او بعض بیاوایې چې داد واړه بیلا بیلی پیښې دی والله اعلم (۱)

کله چې رسول اللهﷺ له دغه ځایه روان سو نودغره په یوه څوکه کې یې دمه وکړه عماربن یاسرؓ او عبادبن بشرؓ دده دساتنې لپاره وټاکل دوئ په خپل مینځ کې پیره سره وویشله چې ترنیمایې شپې به عمارؓ اوپاته شپه به عبادؓ ویښ وی ددې ویش برابر عماربن یاسرؓ ویده سو او عبادؓ دعبادت لپاره پرلمانځه ودریدی او نیت یې وتړی ، یو کافر هغه ولیدی او وې پیژندی چې داد مسلمانانو چوکیدار دی یوغشی یې دده وخواته وویشتی چې سم په نښه ولګیدی مګر عبادبن بشرؓ چې دده په رګو او پوست کې دحقیقی معبود دعبودیت او بندګۍ وینی چلیدله او له سره تر پښو پوری دحقیقی بادار په مینه اومحبت تازه وو او دایمان او احسان خوند دهغه په زړه کې داخل وو غشی او نیزی کهل دهغه دعبادت مخنیوی کولای سو همدغسی پرلمانځه پاته سو او وغشی ته یې هیڅ ونه کتل غشی راوایستی اووې غورځوی هغه کافر دویم غشی هم وویشتی خوده سمدستی راوایستی اووې غورځوی اولمونځ یې جاری وساتی هغه کافر دریم ځل بیاپه غشی وویشتی ده له دې ویری چې هسی نه دښمن بریدوکړی او دکوم هدف لپاره چې رسول اللهﷺ موږ پر دې ځای ټاکلی یو هغه هدف فوت نه سی نوځکه یې لمونځ پوره کې او دلمانځه له پوره کولو وروسته یې خپل ملګری راپورته کي چې پورته سه زه ژوبل سوم کافرچې کله دوئ ولیدی چې بل څوک یې راپورته کي سمدستی وتښتیدی ، عماربن یاسرؓ چې راویښ سو وې لیدل چې وینه یې له بدنه روانه ده ورته وې ویل سبحان الله

(۱) زرقانی جلد /۲/ صفحه /۹۱/

سیف لودین کتابتون

تازه په اول غشی لګیدو سره ولی نه راویښ ولم ده ورته وویل مایو سورت لوستی دهغه پریښودل می ښه ونه ګڼل کله چی په پرلپسی غشو ولګیدم نو بیامی لمونځ پوره کي اوته می راپورته کي قسم په الله ﷻ که درسول الله ﷺ دامرخیال نه وای راسره نودلمانځه ترختمیدو مخکې به زماساه ختمه سوی وه

ددې غزاد تاریخ په اړه ډیر اختلاف دی محمدبن اسحق وایې چی دذات الرقاع غزا دهجرت په څلورم کال په دریمه خور کې سوی ده اوابن سعدوایې چی دمحرم په میاشت په کال پنځم هجری کی سوی ده ځکه دصحیح بخاری په روایت کې د ابوموسی اشعری ﷺ کډون په دې غزاکې یادسوی دی اوابوموسی اشعری ﷺ بالاتفاق دخیبرله غزا وروسته په اووم هجری کال کې له حبشی څخه مدینی ته راستون سوی دی اوله دې پرته په ابوداؤداونوروکې داروایت سوی دی چی مروان بن حکم له ابوهریرة ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی آیاتاله رسول الله ﷺ سره صلوة الخوف دویری لمونځ کړی دی ابوهریرة ﷺ وفرمایل مادنجدپه غزاکې له رسول الله ﷺ سره صلوة الخوف کړی دی داروایت په بخاری کې تعلیقاً ذکرسوی دی اوابوهریرة ﷺ هم په کال اووم هجری کې دخیبرله غزا وروسته درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسوی دی ..

دبدرهغه غزاچی په احدکي ژمنه سوی وه دهجرت څلورم کال دبرات په میاشت کی !

دذات الرقاع له غزا وروسته بیادرجب ترپایه پوری رسول الله ﷺ په مدینه کې پاته سو له احددراتګ په وخت کې له ابوسفیان سره داژمنه سو ی وه چی په راتلونکی کال به په بدرکې جګړه کوو په دې بناء باندی رسول الله ﷺ دپنځلس سوه ۱۵۰۰ صحابه کرام ﷺ سره یوځای دبرات په میاشت کې دبدرخواته ته روان سو بدرته چی کله ورسیدل اته ورځی دابوسفیان په انتظارهلته پاته ابوسفیان هم دمکی مشرکین له ځان سره ملګری کړی وو اوترمرَ الظهران پوری راورسیدل مګر دمقابلی توان یې نه وو اودایې وویل چی درځی بیرته به ولاړسو ځکه سږ کال ډیره وچکالی اوتنګی ده دجنګ اوجګړی کال نه دی قریشوهم ورسره ومنله ، رسول الله ﷺ تراته ورځی پاته کیدو وروسته کله چی دمقابلی څخه ناهیلی سو نوپرته له جنګ اوجګړی څخه مدینی منوری ته راستون سو (۱)

ابوسفیان که څه هم داحدله میدان دتګ په وخت کې داژمنه کړی وه چی په راتلونکی کال کې به بیابه په بدرکې جګړه کوو مګر په زړه کې ډیر ویریدلی وو اوزړه یې داغوښتل چی رسول الله ﷺ هم بدرته رانه سی ددې لپاره چی زه شرمنده نه سم اوملامتیاپرمسلمانانو واچوی نعیم بن مسعودیې مدینی ته ولیږی له هغه سره یې ده ډیر مال ژمنه وکړه چی مدینی ته ولاړسه اوپه مسلمانانو کې داخبره مشهوره کړه چی دمکی

(۱) ابن هشام جلد /۲/ صفحه /۱۳۶/

قریشو د مسلمانانو دبربادۍ لپاره یولوی لښکر تیار کړی دی نو ستاسو لپاره به ښه داوی چی د قریشو دمقابلی لپاره ولاړنه سی دابوسفیان هدف داوو چی کله داخبرخپورسی نو مسلمانان به وویرېږي او دجګړی لپاره به له مدینی څخه نه راوزی ددې خبری په اوریدو سره د مسلمانانو په زړو کې دایمان جوش او قوت نور هم زیات سو ، اوحسبنا الله ونعم الوکیل .. یې وویل او دبدروخوا ته روان سو او دژمنی برابربدرته ورسیدل په بدر کې یو لوی بازار جوړسو درې ورځی مسلمانانو هلته پړاوړواچولی وو ښه تجارت یې وکی او ښه ګټه یې لاس ته راوړه او په خیراوبرکت او سرلوړی سره مدینی ته ستانه سول په دې اړه دا آیت نازل سو : اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْ بَعْدِ مَآ اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا اَجْرٌ عَظِيْمٌ اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُم فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا وَّقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْءٌ وَّاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ ، وَاللّٰهُ ذُوْفَضْلٍ عَظِيْمٍ اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ اَوْلِيَآئَهُ فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَخَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ سورة آل عمران آیت ۱۷۵)

فایدی : په دې آیت کې ددرغوخبر راوړونکی ته الله تعالی شیطان ویلی دی لکه چی الله تعالی فرمایې : (اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ اَوْلِيَآئَهُ) او الله تعالی ددرغو دمخنیوی اوعلاج ځواب راښودلی دی چی تاسو دخپل وس په اندازه جهادوکړی او جنګ ته تیارسی او حسبنا الله ونعم الوکیل ووایاست ، یعنی باور یوائی یوائي په الله ﷻ باندی ولری معاذالله داسی مه کوی چی د شیطان په څیر تاسو هم دخپلو دښمنانو په اړه ددرواغو خبرونه خپاره کې ددروغو ځواب په رښتیا سره ورکړي معاذالله که تاسو هم ددرواغو ځواب په دروغو سره ورکړی نو بیا څه فایده سوه اسلام دخپلو دښمنانو په اړه ددروغو ویلو اجازه هم نده ورکړی ...

دهجرت دڅلورم کال بیلابیلی پیښی

[۱] په همدی کال دبرات په میاشت کې امام حسین ؓ پیدا سو (طبری جلد ۳ /ص/ ۳۹)

[۲] په همدی کال ددریمی خور په میاشت کې دعثمان بن عفان ؓ زوی عبدالله ؓ دشپږو کالو په عمر وفات سو (طبری جلد /۳/ص/ ۳۹)

[۳] په همدی کال دکوچنی اختر په میاشت کې رسول الله ﷺ له ام المؤ منین ام سلمه رضی الله تعالی عنها سره نکاح وکړه (طبری جلد /۳/ص/ ۴۲)

[۴] په همدی کال دروژی مبارکی په میاشت کې زینب بنت خزیمه ام المساکین رضی الله عنها سره رسول الله ﷺ نکاح وکړه ، طبری جلد ۳ ، صفحه ۳۳)

[۵] او په همدی کال زید بن ثابت ؓ ته رسو الله ﷺ امر وکي چی دیهودو ژبه زده کړی لیکل او لوستل زده کړی ځکه زه ددوئ په لوستلو باندی ډاډ من نه یم (طبری جلد ۳ /ص/ ۴۲)

سیف لودین کتابتون

[۶] دمشهور قول پر بناء باندی دپردی حکم هم په همدی کال نازل سو یو شمیر وایې چې په دریم کال دهجرت وسوا ویو شمیر بیا وایې چې په پنځم کال دهجرت وسو (فتح الباری جلد / ۷ / ص / ۳۳۳) دپردی دمسئلی څیړنه به که دالله ﷻ خوښه وه دامهات المؤمنین په بیان کې راسی. دڅلورم کال دهجرت پیښنی پای ته ورسیدی اوس دهجرت پنځم کال پیل کیږی.

ددُومة الجندل غزا دهجرت پنځم کال دلومړۍ خور میاشت (۱)

دلومړۍ خور په میاشت کې رسول الله ﷺ ته داخبر ورسیدی چې ددومة الجندل خلک پر مدینه باندی دبرید کولو نیت لری نبی کریم ﷺ زرتنه صحابه کرام ؓ له ځان سره ملګری کړه اودلومړۍ خور په ۲۵ ورځ کال پنځم هجری ددومة الجندل وخواته ولاړی کله چې هغه خلک خبرسو نو شاوخواسیموته وتښتیدل رسول الله ﷺ پرته له څه جګړې بیرته راستون سو اودڅلورمی خور په شلمه بیرته مدینی منوری ته راورسیدی. (طبقات ابن سعد جلد ۲، صفحه ۴۴، زرقانی جلد ۲، صفحه ۹۵)

دمریسیع (۲) یابنی المصطلق غزا دبرات میاشت ددوشنبی ورځ دهجرت پنځم کال!

رسول الله ﷺ ته داخبر ورسیدی چې حارث بن ابی ضرار دبنی المصطلق مشر ډیر فوځ رایوځای کړی دی غواړی چې پر مسلمانانو باندی برید وکړی، رسول الله ﷺ بریده بن حصیب اسلمی ؓ دخبر دمعلومولو لپاره ولیږی، بریده ؓ راغلی او وې ویل چې خبر صحی وو رسول الله ﷺ صحابه کرام ؓ ته دتیاری حکم وکي صحابه کرام ؓ هم سمدستی تیار سول دیرش آسان ورسره وو چې له هغو څخه لس دمهاجرو ؓ اوشل دانصارو ؓ وو په دې غزاکې دمنافقینو یوه لویه ډله دغنیمت دمال په هیله هم له دوئ سره سوه چې تر دی مخکې یې هیڅ کله په غزاکې ګډون نه وو کړی رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې یې زیدبن حارثه ؓ خلیفه وټاکي اوله امهات المؤمنین رضی الله عنهن څخه یې عائشه صدیقه ؓ او ام سلمه ؓ له ځان سره کړی اودبرات په دویمه ددشنبی په ورځ دمریسیع وخواته روان سو، دوئ تیزولاړل اوناڅاپه یې پر بنی المصطلق برید وکی په دغه وخت کې

---

(۱) دومة الجندل دیوځای نوم دی چې له مدینی منوری څخه دپنځلسو ورځو مزل دی له دومة الجندل څخه بیا تر دمشق پوری دپنځو ورځو لاره ده، زرقانی جلد /۲/ صفحه /۹۵/)

(۲) مریسیع دیوی چینی نوم دی چیری چې دبنی المصطلق سره مقابله وسوه اوبنی المصطلق قبیله دخزاعه یو ښاخ دی ددی غزا په وخت کې اختلاف دی ابن اسحاق وایې چې په کال ۵ هجری کی سوی ده اویو شمیر وایې په کال ۴ هجری کی سوی ده قتاده ؓ عروه بن زبیر ؓ ابن شهاب زهری وایې چې په شعبان کې سوی ده په کال ۵ هجری کی موسی بن عقبه اوابن سعد اوبیهقی اوحاکم همدا قول غوره کړی دی حافظ عسقلانی وایې همدا قول صحیح دی ځکه دسعدبن معاذ ؓ په دې غزاکی ګډون په صحیح بخاری کې یاد سوی دی اودصحیح اومعتبر روایاتو اواحادیثو سره داثابته ده چې سعدبن معاذ ؓ دخندق له غزا وروسته دبنی قریظه په وخت کې وفات سوی دی چې په کال ۵ هجری کې داغزا سوی ده نو که دمریسیع غزا په کال ۶ هجری کې دبنی قریظه څخه یو کال وروسته ومنل سی نو دسعدبن معاذ ؓ ګډون په هغه کې څنګه کیدای سی دتفصیل لپاره فتح الباری جلد ۷ / صفحه / ۲۳۲، اوزرقانی جلد ۲ / صفحه / ۹۶)

سیف لودین کتابتون

د مصطلق زامنو خپلو پسو ته او به ور کولې د برید مخنیوی یې نه سو کولای لس تنه له دوئ ووژل سو او پاته ښځي اوواړه ماشومان او سپين ږيری ټول ونيول سو مال او سامان يې غنيمت سو او دوه زره اوښان او پنځه زره پسونه او بزې مسلمانانو ته په لاس ورغلو او دوه سوه کورنۍ بنديان سو (۱) په دغه بنديانو کې د بنی المصطلق د مشر حارث بن ضرار لور جويريه هم وه ، د غنيمت مال چې کله پر غازيانو وويشل سو نو جويريه د ثابت بن قيس ؓ په برخه سوه ثابت بن قيس ؓ له هغې سره کتابت وکي يعني د پيسو معلومه اندازه يې وروښوده چې ته دومره روپۍ راکړه ازاده سې جويريه ؓ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره سوه او غوښتنه يې وکړه چې يا رسول الله ﷺ ته په دې خبرې چې زه د بنی المصطلق د مشر حارث بن ضرار لوريم او زما بندی ګرت هم تا ته معلوم دی زه د ثابت بن قيس ؓ په برخه کې راغلی يم هغه زه مکاتبه کړم او د کتابت په بدله کې زه له تا مرسته غواړم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل زه تا ته تر دی غوره شئ وښيم که ته غواړې هغه دا چې ستا له لوری به زه هغه پيسی ورکړم او آزاده به دی کړم او بيا به دې په نکاح کړم جويريه ؓ وويل زه په دې باندی بيخی راضی او خوشاله يم (رواه ابو داؤد کتاب العتاق)

د جويريه ؓ د آزادۍ غوښتنه خو لا د مخکی وه چې هغه آزاده سی خو ناڅاپه د هغې پلار هم د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او غوښتنه يې وکړه چې زه د بنی المصطلق د قبيلې مشر يم او زما لور مينځه نه سی پاته کيدای ته هغه آزاده کړه ، رسول الله ﷺ ورته وويل آيا دا به غوره نه وی چې زه دا خبره په خپله جويريه ؓ ته وسپارم حارث ولاړی جويريه ؓ ته يې وويل چې رسول الله ﷺ ته خپلی خوښی ته پری ايښي يې جويريه ؓ وويل زه الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ غوره کوم (رواه ابن منبه وسنده صحيح) (۲)

د عبد الله بن زياد ؓ څخه روايت دی چې د جويريه ؓ پلار حارث بن ابی ضرار ډير اوښان له ځان را وستل او مدينی منوری ته راغلی د دې لپاره چې د خپلی لور فديه ورکړی او خپله

---

(۱) دا روايت د صحيح البخاری په کتاب العتاق ص /۳۲۵ کې له نافع څخه سوی دی او نافع وايي حدثنی به عبد الله بن عمر ؓ وکان فی ذلک الجيش ، چې دا حديث ما ته عبد الله بن عمر ؓ بيان کړی دی او هغه په خپله هم په دې لښکر کې وو نو ځکه دا روايت مرفوع متصل دی بالفرض که د دې روايت سلسله نافع باندی ختميدلای نو په اصطلاح د محدثينو کې ودې ته مرسل ويل کيږی چې هغه د جمهورو سلفو په نزد حجت دی منقطع حجت نه دی مو ږ نه پوهيږو چې علامه شبلی په سيرة النبی صفحه ۳۸۲ کې په څه وجه دا حديث منقطع ګڼلی دی او د دې روايت د نه اعتبار لپاره يې ډير ناکامه کوښښ کړی دی د سيره روايت کې او د صحيح بخاری په روايت کې هيڅ تعارض نسته ځکه د سير د روايت څخه يوائي دومره معلوميږی چې بنی المصطلق د نبی کريم ﷺ په تياری خبر سوی وو مګر په دی نه وو خبر چې هغه به دا سی ناڅاپی برید ور باندی کوی لکه چې د صحيح بخاری له روايت څخه معلوميږی چې کله مسلمانانو پر دوئ هجوم ور وړی نو دوئ ناخبره وو . (منه عفا عنه)

(۲) الاصابه جلد ۴ / صفحه / ۲۶۵)

سیف لودین کتابتون

لور آزاده کړی له هغو اوښانو څخه دوه یې ډیر غوره وو ده هغه په یو ځای کې پټ کړل چې کله بیرته ځی نو له ځان سره به یې بیایې کله چې مدینی ته راغلی د رسول اللهﷺ په خدمت کې حاضر سو او اوښان یې رسول اللهﷺ ته وړاندي کړل او وې ویل اې محمدﷺ تا زما لور بندی کړی ده دهغی فدیه داده ، رسول اللهﷺ ورته وفرمایل چې هغه دوه اوښان چیری دی چې تا په فلانی کنډو کې پټ کړل او راغلی ؟ حارث وویل (اشهد انک رسول الله) زه شاهدی ورکوم چې بیشکه ته د اللهﷻ رسولﷺ یې ، له اللهﷻ پرته بل هیڅوک په دې اوښانو نه وو خبر او الله تعالی تا ته خبر درکړی دی (اصابه ترجمه حارث بن ابی ضرارؓ)

لنډه دا چې رسول اللهﷺ جویریهؓ آزاده کړه او په خپله یې په نکاح کړه صحابه کرامؓ چې کله خبر سو نو د بنی المصطلق ټول بندیان یې آزاد کړل ځکه دوئ د رسول اللهﷺ د خسرګنۍ خپلوان دی ، ام المؤمنین عائشه صدیقهؓ (۱) بنت صدیقؓ فرمایې چې ماتر جویریهؓ د خپل قوم لپاره بله زیاته برکتمنده ښځه نه ده لیدلی د دې له سترګو په یوه ورځ کې سل کورنۍ آزادی سوی (ابو داؤد کتاب العتاق جلد ۲، صفحه ۱۹۳)

په دې سفر کې د منافقینو یوه لویه ډله وه چې په هر وخت کې به یې خپله فتنه او شر را ولاړوي یوه داسی پیښه وسوه چې د اوبو پر چینه باندی د یوه مهاجر او انصاری شخړه راغله مهاجر انصاری په لغته ووهی مهاجر ناره وکړه یاللمهاجرین او انصاری بیا وویل یاللانصار هر یوه خپلو ته د مرستی ناره وکړه رسول اللهﷺ چې کله دا آوازونه واوریدل نو وې فرمایل : چې دا څه د جاهلیت په شیز آوازونه دی څنګه وسو خلکو وویل یا رسول اللهﷺ یو مهاجر بل انصاری په لغته وهلی دی رسول اللهﷺ وفرمایل : (دَعُوهَا فَاِنَّمَا مُنْتِنَةٌ) دا خبری پریږدی ښتیا هم دا ډیری بدبویه او خرابی دی

د منافقینو مشر عبد الله بن ابی بن سلول ته د خبر وخت پیدا سو سمدستی ذلیل را پورته سو او وې ویل آیا دا خلک یعنی مهاجرین پر موږ باندی حاکمان او مشران سو قسم په اللهﷻ مدینی ته له رسیدو سره سم به عزتمند ذلیلان له مدینی د باندی وزی او دا موږ په خپل ځان وکړه رسول اللهﷺ چې کله خبر سو نو عمر فاروقؓ غوښتنه وکړه چې یا رسول اللهﷺ د دې منافق د سر پریکولو اجازه راکړه ؟ رسول اللهﷺ وفرمایل پریږده خلک خو په حقیقت نه دی خبر دا ګمان به کوی چې محمدﷺ خپل ملګری ووژل عبد الله بن ابی بن سلول خو په ښکاره د رسول اللهﷺ له ملګرو څخه وو خو په پټه یې له سختو دښمنانو څخه وو مګر په ښکاره

(۱) د خپل نبیﷺ د فضل او کمال په ښتینی زړه او ښتینی ژبه سره منل او اقرار کول دا د صدیقیت د شان غوښتنه ده ځکه په دې ځای کې د ام المؤمنین له نامه سره د صدیقه لفظ ډیر مناسب معلومیږی (منه عفا عنه)

سیف لودین کتابتون

چلند مکراوفریب سره د رسول اللهﷺ له ملګروسره مشابه وو په ژبه یې دهغه د ملګری دعوه کوله ځکه رسول اللهﷺ دهغه دوژلو اجازه ورنه کړه د مخلصین ملګرو په مشابهت خو هغه ځان وساتی مګرد ښو ملګرو مشابهت که په منافقت سره وی هغه هم بی ګټی (۱) اوبیکاره نه دی لویه فایده : درسو ل اللهﷺ دا ارشاد (دعُوها فَاِنَّهَا مُنتِةٌ) داخبری پریږدی داخبری ډیری بدبویه دی ،، له دې معلومیږی چی ښی خبری پاکی اوخوشبویه وی اوبدی خبری خرابی اوبدبویه وی دخبروخوشبویې اوبدبویې په ښکاره سترګویوائحي انبیاء علیهم السلام اودهغوئ ووارثانو ته کیږی

وعن جابرؓ قال کنا مع النبیﷺ فارتقت ریح منتنة فقال رسول اللهﷺ اتدرون ماهذه الریح هذه ریح الذین یغتابون المؤمنین (رواه احمد وابن ابی الدنیا ورواة احمد ثقات (ترغیب وترهیب للمنذری جلد ۱، صفحه ۳۰ طبع مصری)

جابرؓ وایې چی موږ له رسول اللهﷺ سره وو چی ډیر بدبوی پرموږ راغلی رسول اللهﷺ وفرمایل تاسو په دې خبریاست چی دا دڅه شئ بدبویې ده دابدبویې دهغه خلکو دخولی څخه راځی کوم چی اوس دمسلمانانو په غیبت بدویلو بوخت دی ، داحدیث امام احمد او ابن ابی الدنیا روایت کړی دی دامام احمد دسند ټول راویان ثقه دی)

له دې حدیث څخه ښکاره معلومیږی چی رسول اللهﷺ اوکوم ملګری چی له رسول اللهﷺ سره وو دې ټولو دغیبت بدبویې محسوس کړه مګر داخبره چی دادڅه شئ بدبویې ده دادرسول اللهﷺ په وینا معلومه سوه

حافظ سیوطی دخصائص کبری باب ماوقع فی غزوة بنی المصطلق من الایات (۲) لاندی همداحدیث په حواله دابی نعیم په دې الفاظو روایت کړی دی

عن جابرؓ قال کنامع رسول اللهﷺ فی سفر فهاجت ریح منتنة فقال النبیﷺ ان ناساً من المنافقین اغتابوا ناساً من المؤمنین فلذلک هاجت هذه الریح) له جابرؓ څخه روایت دی چی موږ په یوه سفر کې له رسول اللهﷺ سره وو چی ناڅاپه ډیربدبویه باد راوالوتی چی هغه رنګه بوئ غالباتر دی مخکې موږ نه لیدلی اونه اوریدلی وو) رسول اللهﷺ وفرمایل تاسو ددی بدبوئ په راتګ تعجب مه کوی ځکه په دی وخت کې څه منافقین دمؤمنانو غیبت اوعیب وایې نو ځکه دابدبویه باد راالوتی دی یعنی دادمؤمنانو دغیبت بدبویې ده په دې وجه په دې کې داشدت اوعجب والی شته ، دحافظ سیوطی له دې خبرو څرګندیږی چی دغیبت دبدبویې پیښه په بنی المصطلق غزاکی سوی ده اوهمداسی یوه بله پیښه هم سوی ده کله چی دوئ

(۱) که مونوره پلټنه اوڅیړنه په کاروی نو دفاضل مکرم محترم قاری مولانامحمدطیّب صاحب مهتمم دارالعلوم دیوبند تصنیف لطیف (اشتبه فی الاسلام) ته رجوع وکړی چی دتشبه په مسئله کې بی مثاله اوبی نظیره کتاب دی ..

(۲) یعنی باب دهغوخبروچی دبنی المصطلق په غزاکې کومی کومی معجزی ښکاره سوی دی ، خصائص کبری جلد /۲/ صفحه /۲۳۶)

سیف لودین کتابتون

مدینې ته نژدې ورسېدل همداسې پېښه وسوه لکه چې په صحیح مسلم کې له جابر رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چې کله موږ ددې سفر یعنې دبني المصطلق غزا څخه راتلو مدینې ته نژدې ورسېدو نو ناڅاپه یوه ډېره بدبویه هوا راوالوته رسول الله ﷺ وفرمایل دابدبویه هوا دیو منافق دمرګ په وجه سره راالوتې ده کله چې موږ مدینې منورې ته ورسېدو نو خبر سو چې یوډېر لوی منافق مړ دی (خصائص کبری جلد ١، صفحه ٢٣٦)

کیدای سي دهغه منافق دخبیث اوخراب روح له کبله ددې بیابان ټوله هوا بدبویه سوې وي چې هغه نبي کریم ﷺ او دهغه ملګرو رضی الله عنهم محسوس کړه پر خلکو باندې دالازم دی چې دالله جل جلاله وغوره بندګانو ته چې دکفر نجاست معلوم سوی دی دا خبره ومني اوپوه سي چې دیوبې حسه اوزکام والا دګلاب اومتیازو دخوشبویې اوبدبویې نه محسوس کول په سمو حواسو والا باندې دلیل نه دی دپاکو خبرو پاک اوښه بوی اودبدو اوناوړه خبرو بد او خبیث بوئ به څه وپېژني

په جامع ترمذي کې له عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :

إذا كَذَبَ العبد تباعد عنه الملك ميلاً من نتن ما جاء به (ترمذی شریف جلد ٢، صفحه ١٩)

ژباړه :کله چې انسان دروغ ووایې نوملائکه وی ددروغو دبدبوي له کبله یو میل څنې لیرې کیږي په مسند احمد او جامع ترمذی اوسنن ابی داؤد اونسائی اومستدرک دحاکم کې له ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :کوم خلک چې دیو مجلس څخه پرته دالله جل جلاله له یادولو ولاړسي داسې مثال لري لکه چې هغه له یو مردارسوي خره له خوا راولاړسوی وي ، امام ترمذی فرمایې داحدیث حسن صحیح دی حاکم فرمایې داحدیث په شرط دمسلم باندې صحیح دی دبخاری اومسلم په یوحدیث قدسي کې راغلي دي چې بنده چې کله دیوې نیکۍ اراده وکوي نوملائکه وی دهغه ترعمل کولو مخکې یوائي دهغه دارادې له کبله یوه نیکي لیکي اوترکولو وروسته یې لس چنده لیکي تراووه سوه ٧٠٠ چنده پورې اوبنده چې کله دبدۍ اراده وکوي نوترڅوپورې چې هغه بدي ونه کړي ترهغه وخته یې نه لیکي الی آخر الحدیث)

له دې حدیث څخه ثرګندیږي چې کراماً کاتبین ته دانسان دزړه دارادو اوخیالاتو هم څه خبرورکول کیږي که هغوئ ته خبرنه کیدای نو یوائی دنیکۍ په اراده نیکي څنګه لیکي ،

ابو عمران جوني فرمایې چې په دغه وخت کې ملائکو ته آواز کیږي چې دفلاني په عملنامه کې دانیکۍ ولیکه ملائکي عرض کوي چې اې رب جل جلاله ده خو دانیکي نه ده کړې ، ځواب ورکړل سي چې که څه هم ده دانیکي نه ده کړې مګر دنیکۍ نیت یې کړی دی ..

سفیان بن عیینه رحمه الله فرمایې چې کله بنده دیوې نیکي اراده کوي نو دهغه له نفس څخه یوه پاکه خوشبویي راپورته کیږي ملائکه وي پوه سي چې ده دنیکۍ اراده کړې ده اوکله چې دبدۍ اراده وکړي نو دهغه څخه بدبوئ پورته سي ملائکه وي پوه سي چې ده دبدۍ اراده کړې ده .

سیف لودین کتابتون

حافظ عسقلانی فرمایي چی همدامضمون طبری دابومعشرمدنی څخه نقل کړی دی اومایه خپله دحافظ مغلطائی په شرح کې ددې مضمون یومرفوع حدیث هم لیدلی دی ،
فتح الباری جلد ۱۲ صفحه ۲۷۸ کتاب الرقاق باب من هم بحسنة اوبسیئة)

لکه څنګه چی عطرډیرقسمونه دی اورنګارنګ خوشبویی یه ځی دغه رنګه دهری نیکی بیله خوشبویی وی لکه چی عطار دعطروخرڅونکي عطرپه بوئ پیژنی چی دافلانی رقم عطردی کیدای سی چی ملائکه وی هم دبوئ په پیژندلوسره پوهیږی چی دادفلانی ښه عمل خوشبویي ده والله سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتم واحکم ،

لوی عالم اوبزرګ شیخ عبدالوهاب شعرانی رحمة الله علیه فرمایي :

کان وهب بن مُنَبِّه رحمه الله تعالی یقول لایموت عبدحتی یری الملکین الکاتبین فان کان صحبهمابخیر قالاله جزاک الله من صاحب خیرا فنعم الصاحب کنت فکم احضرتنا معک فی مجلس الخیروکم شَمَمنامنک الروائح الطیّبة حال طاعتک الخالصة وان کان قدصحبهمابسوٴ قالاله لاجزاک الله عنامن صاحب معاصیک وکم شممنامنک رائحة النتن (تنبیه المغترین صفحه ۲۶)

ژباړه : وهب بن منبه رحمه الله به دافرمایل چی یوبنده ترهغوپوری نه مړکیږی ترڅوپوری چی ترمرګ مخکي کراماکاتبین ملکی هغه ووینی نوکه هغه سړی دکراماً کاتبین سره دنیکي ژوندتیرکړی وو نوپه دغه وخت کې ملکی دا ورته وایي جزاک الله خیراً ، الله ﷻ دې تاته ښه بدله درکړی ته ډیر ښه دوست وی ډیرځله تاموږدخیرپه مجلسوکې له خپل ځان سره شریک کړی یو اوډیرځله ستادځانګړی عبادت په وخت کې موږته پاکه خوشبویې رسیدلی ده اوکه هغه سړی دکراماً کاتبین سره دبدی ژوندتیرکړی وی نوملکی په دغه وخت کې داورته وایي چی الله ﷻ دې تاته دخیربدله نه درکوی ډیرځله ستاپه وجه موږدګناهوپه مجلسوکې ستاسره ګډون راغلی دی اوډیرځله موږستاڅخه بدبوئ محسوس کړی دی ..

وکان محمدبن واسع رحمه الله تعالی یقول لاصحابه قدغرقنا فی الذنوب ولو ان احدا منکم یجدمنی ریح الذنوب لم استطاع ان یجلس الیّ (تنبیه المغترین صفحه ۱۹)

ژباړه : محمدبن واسع رحمة الله علیه به خپلوملګروته ویل چی موږله سره ترپښنوپوری په ګناهوکې ډوب یو په تاسوکې که یوه سړی زمادګناهوبدبویې محسوس کولای نودبدبوئ له کبله به زماڅنګ ته هیڅ وخت نه وو کښینستلی ..

این سخن رانیست هر گز اختتام .... پس سخن کوتاه باید والسّلام

بیرته خپلی خبری ته ګرزو عجیبه ده چی عبدالله بن ابی بن سلول خوداسلا م دښمن اودمنافقینو مشروو اودده زوی چی هغه هم عبدالله رضی الله عنه نومیدی هغه بیاداسلام سپاهی ،

سیف لودین کتابتون

مخلص اوځان قربانونکي وو په رښتیاهم هغه دالله ﷻ بنده وو اوپلارېې یوائحي په نامه عبدالله وو ، عبدالله ؓ چې کله دپلاردا خبره واوریده چې مدینی ته په رسیدوسره به عزتمندذلیل باسی کله چې دوئ مدینې ته ورسیدل نوعبدالله ؓ خپل پلارابی ونیوی وې دروی اوورته وې ویل چې قسم په الله ﷻ که ته ترهغه وخت مدینی ته داخل سی ترڅوچې ته داونه وایې چې ته ذلیل یې اورسول الله ﷺ عزیزدی کله چې یې پلاردااقرار وکي نوبیازوی پرېښودی

حافظ عسقلانی رحمة الله علیه فرمایې چې داپیښه ابن اسحق اوطبری هم ذکرکړی دی (فتح الباری سورة المنافقون)

مدینی منوری ته چې کله ورسیدل عبدالله ؓ دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ زه خبرسوی یم چې ته زمادپلاردوژلوحکم کوی که اجازه وی نوزه به په خپله دپلارسر غوڅ کړم اوستاپه خذمت کې به یې حاضرکړم چې بل چاته دهغه حکم ونه کړی زه په خپله هغه وژنم ، رسول الله ﷺ عبدالله ؓ ته دپلاردوژلوحکم ونه کی بلکې له هغه سره یې دښه چلند اواحسان کولوحکم وکړ

دافک پیښه یعنی په ام المؤمنین عائشه صدیقه ؓ پوری دتورتړلو پیښه !

منافقینوپه ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنهاوعن ابیها باندی تور پوری کړ داپیښه له همدې غزا دستنیدوپه وخت کې رامنځ ته سوه اودهغه تفصیل په صحیح بخاری شریف کې یادسوی دی مونږیې دلته رانقل کوو :

په همدې سفرکې عائشه صدیقه ؓ له رسول الله ﷺ سره وه په دې وخت کې دپردې حکم نازل سوی وو کله چې به دوئ روانیدل کجاوه به یې راواخیسته اوپراوبښ به یې کیښوده اوپرکجاوه پردی ځړیدلی وی صحابه کرام ؓ کجاوه پراوبښ بارکړه اولښکرته دکوچ امروسو په دې وخت کې عائشه صدیقه ؓ په کجاوه کې نه وه دادقضاء حاجت لپاره له لښکرلیری تللی وه کله چې راتله په لارکې یې دغاړی هغه امیل پری سو چې له غموجوړسوی وو دادغموپه راټولوبوخت سوه قافله تیاره وه دکجاوی پردی لویدلی وی صحابه کرامو ؓ دافکروکي چې ام المؤمنین ؓ په کجاوه کې شته کجاوه یې پراوبښ کیښوده اوروان سو په همدې وخت کې عائشه صدیق ؓ دډیرلږعمروه اووړه هم وه دکمزوری په وجه څکه صحابه کرام ؓ دکجاوی دسپکوالی فکرونه کی بل خلک ډیر وو لښکرروان سو اوعائشه صدیقه ؓ دامیل دغموپه ټولوبوخت وه قافله ولاړه کله چې صدیقه ؓ راغله نودلښکرپرځای هیڅوک هم نه وو ټول تللی وو دې دافکروکي چې کله

سیف لودین کتابتون

رسول الله ﷺ دېړا واچولو ځای ته ورسیږی اوزه نه یم نو په ماپسی به ځوک دلته راليږی په همدغه ځای یې پړوني پرځان وپیچي اوپه دغه غمجن حالت کې ویده سوی وه صفوان بن معطل سلمی رضی الله تعالی عنه به دقافلی دپاته شیانو دړلولپاره شاته پاته کیدی کله چی هغه راغلی وی لیدل چی عائشه صدیقه ﷺ ده وې پیژندله دپردی دحکم ترنازلیدو مخکې ده عائشه صدیقه ﷺ لیدلی وه په دغه وخت کې یې سمدستی وپیژندله اوانالله وانا الیه راجعون یې په لوړ آواز وویل ، عائشه صدیقه ﷺ دده په ږغ راویښه سوه سترګی یې خلاصی سوی سمدستي یې مخ په پړونی پټ کې عائشه صدیقه ﷺ فرمایې :

(والله ماکلمنی کلمة ولاسمعت منه کلمة غیر استرجاعه) ژباړه : قسم په الله ﷻ که صفوان لماسره هیڅ خبره کړی وی اونه دهغه له ژبی پرته دانالله وانا الیه راجعون بله خبره وتلی وی ،

کیدای سی چی صفوان ﷺ په لوړآواز سره انالله وانا الیه راجعون ددې لپاره ویلی وی چی ام المؤمنین صدیقه ﷺ راویښه سی اودخبروکولوته اړتیا پیښه نه سی اوهمداسی وسو صفوان ﷺ خپل اوښ راوستی اودام المؤمنین صدیقه ﷺ وخواته یې چوکي ګونډه کي ، دابن اسحاق په روایت کې راغلی دی چی صفوان ﷺ اوښ مخ ته ودروی اوپه خپله لیری ودریدلی ، آه ام المؤمنین صدیقه ﷺ سپره سوه اوصفوان ﷺ داوښ مهارونیوی اوروان سو ترخولښکرته ورسیدی دغرمی وخت وو ،دمنافقینومشر عبدالله بن ابی بن سلول خبیث اودده ملګروچی کله عائشه صدیقه ﷺ دصدیق ﷺ لورو لیده سمدستی یې په لښکرکې آوازه خپره کړه اوپه صدیقه ﷺ پوری یې تورونه وتړل داهغه بدبخت دې چی تباه اوبربادسو

کله چی دوئ مدینی ته ورسیدل عائشه صدیقه ﷺ وایې زه ناروغه سوم یوه میاشت په ناروغی کې پرماتیره سوه منافقینواوتورپوری کونکو په مدینه کې آوازه خپره کړه مګرزه په هیڅ نه وم خبره خودرسول الله ﷺ دمخکې په شیرمهربانی نه وه دمهربانی دکمیدوله کبله زماناروغی نوره هم زیاته سوه ځکه مخکې چی به زه ناروغه وم نو رسول الله ﷺ به خپله له ما پوښتنه کوله اوډیره مهربانی به یې راسره کوله خواوس رسول الله ﷺ زمادحال پوښتنه له بل چاکوی اوبیرته ځی لماڅخه پوښتنه نه کوی درسول الله ﷺ په دې بی التفاتی سره زماناروغی نوره هم زیاته سوه ، یوه ورځ زه اوام مسطح دقضاء حاجت لپاره دځنګله خواته ووتلو دعربومخکې دارواج وو چی دبدبویې په وجه به له کوره دباندی بیت

الخلاء جوړوله ، په لاره کې ام مسطح (۱) خپل زوی مسطح ته بدوویل ، عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمایې چې ماورته وویل ته ولی داسی چاته بدوایې چې هغه له بدریانو څخه دی ام مسطح وویل اې ساده انجلۍ ته خبره نه یې چې څه پیښنه ده عائشه صدیقه رضي الله عنها وایې ماورته وویل نه څه قصه ده ، ام مسطح ټوله پیښنه راته بیان کړه ددې خبرې په اوریدوسره زمانا روغی نوره هم سخته سوه دسعیدبن منصور په یومرسل روایت کې راغلی دی چې ددې خبرې په اوریدوسره زه ولړزیدم اوتبه راباندی راغله ، په معجم طبرانی کې په صحیح سندسره له عائشه صدیقه رضي الله عنها څخه روایت دی چې کله ماداقصه واوریده نودومره په تکلیف سوم چې بی اختیاره مې په زړه کې داتیرسو چې خپل ځان یوکوهی ته وغورزوم آه ، اخرجه ابویعلی ایضا

زه دقضاء حاجت له پوره کیدوپرته بیرته کورته راغلم (۲) کله چې رسول الله ﷺ راغلی نوماله هغه څخه وغوښتل چې زه خپل کورته ولاړه سم خپل مور اوپلار خواته ته اجازه راکړه ددې لپاره چې دمور اوپلار له لاری ددې قصی ښه څیړنه اوتحقیق وکړم رسول الله ﷺ ماته اجازه راکړه زه دمور اوپلار کره راغلم اوخپلی مورته مې وویل اې موری ته په دې خبره یې چې خلک زماپه اړه څه وایې ؟ مور راته وویل اې لوری ته مه خفه کیږه (۳) ځکه داقاعده اورواج دی چې کومه ښځه ډیره ښائسته اوښه خوی درلودونکی وی اودخپل میړه په وړاندی لوړه مرتبه لری نوکین کونکی مینځی هرورمروله دې سره کین کوی اوددې په تاوان پسی وی ماوویل سبحان الله آیاپه خلکوکې داخبره خپره سوی ده ، دهشام په روایت کې راغلی دی چې ماوویل آیازماپلار هم په دې خبردی مورراته وویل هو ، دابن اسحاق په روایت کې راغلی دی چې ماورته وویل اې موری تاته دی الله ﷻ ببننه وکوی په خلکوکې داخبره خپره سوی ده اوتاماته ددی هیڅ یادونه نده کړی دامی وویل اوپه

---

(۱) دام مسطح رضي الله عنه مور دصدیق اکبر رضي الله عنه خاله وه اومسطح رضي الله عنه دصدیق اکبر رضي الله عنه دخاله زوی دی

(۲) دادابن هشام روایت دی اوصحیح هم همدا روایت دی ځکه له نوروصحیح اوصریح روایاتوڅخه معلومیږی اوپه یوشمیرروایاتوکې ابهام دی چې هغه دقضاء حاجت له خواپه بیرته راتګ کې له دې پیښې خبره مګر داصحیح نه دی اول صحیح دی دتفصیل لپاره فتح الباری جلد ۳ /صفحه / ۳۵۴ /ته رجوع وکړی ..

(۳) دصحیح بخاری الفاظ داسی دی ، قالت یابنیة هونی علیک فوالله لقلماکانت امرأة عندرجل یحبها ولهاضرائرالاکثرن علیها ،، ضرائرجمع وضرّةٌ مفرده معنی بن دویمه ښځه مګر په اصل لغت کې ضرة هغه ښځی ته وایې چې دچاپه زیان اوتاوان کې اخته وی مګر په دې پیښنه کې دعائشه صدیقه رضي الله عنها بنویعنی امهات المؤمنین څخه یوی هم ودې ته اشارة یاکنایة هیڅ اشاره اونه یوحرف دعائشه صدیقه رضي الله عنها په اړه ویلی لکه چې په راتلونکی به دابیان راسی ځکه موږ دضرائردامعنی وکړه چې کومی ښځی دکین په وجه دچاپه زیان پسی وی ګواکی هغه ښځی دکین په وجه داسی دی لکه بنی ، و الله سبحانه وتعالی أعلم)

سیف لودین کتابتون

ستر ګو کې می اوښکې راغلی او چیغې می ووهلی (۱) ابوبکر صدیقؓ په لوړه کوټه کې دقرآن شریف تلاوت کوی ده زما چیغې اوړېدلې واوریده لاندې راکښته سو او زما له مور څخه یې پوښتنه وکړه مور ورته وویل چی دا په قصه خبره سوه ابوبکر صدیقؓ چی کله دا واورېدل وې ژړل او پر ما دومره سخته تبه راغله چی ولړزیدم زما مور اوام رومان د کور ټوله کالی پر ما واچول او ټوله شپه مې په ژړا تېره کړه دیوه ګړی لپاره مې هم اوښکی نه دی وچې سوی دغه رنګه سهار سو

کله چی دوحی په نازلیدو کې ځنډ راغلی نو رسول اللهﷺ له علیؓ او اسامهؓ سره مشوره وکړه، اسامهؓ ورته وویل (یارسول الله هم اهلک) اې دالله ﷻ رسولﷺ دا ستا اهل دی چی ستا له شان او نبوت او منصب نبوت او رسالت سره مناسب دی ددې پاکی او پاک لمنی ده پوښتنی کولو اړتیا نسته ددې پاکی خو تر لمر ښکاره ده او په دې کې د رایه او مشوری څه اړتیا سته او که رسول اللهﷺ زموږ رایه معلومول غوای نو موږ دا وایو (ومانعلم الاخيراً) تر څو پورې چی موږ خبر یو د رسول اللهﷺ په کورنۍ او پاکو ښځو کې هیڅ کله له خیر او نیکۍ پرته بل څه موږ نه دی لیدلی،

علی کرم الله وجهه د رسول اللهﷺ دغم او خفګان او ستړیا په خاطر داغو ښتنه وکړه چی (یارسول اللهﷺ لم یضیق الله علیک والنساء سواها کثیر وان تسأل الجاریة تصدقک)

ژباړه: یارسول اللهﷺ الله ﷻ پر تا تنګی نده کړی ښځی له دې پرته نوری هم ډیر دی ته که د کور له منیځی پوښتنه وکړی نو هغه به در ته رښتیا ووایې.

یعنی ته مجبوره نه یې بیلوالی ستا په خوښه دی مګر لومړی د کور له مینځی پوښتنه وکړه هغه به رښتیا در ته ووایې ځکه مینځه او خادمه د کورنۍ د نورو غړو په پر تله ډیره په حالاتو خبره وی) له یو شمیر روایاتو څخه دا څرګندیږی چی عائشه صدیقهؓ ددې مشوری له کبله له علیؓ څخه خفه وه، نو که دا خبره رښتیا هم وی نو دا ګیله او شکایت هم د ډیری مینی او ډیر تعلق دلیل دې ځکه ګیله او شکایت له خپله کیږی نه له پردی او بل دا چی عائشه صدیقهؓ په دې وخت کې د لږ عمر هم وه او دغمونو یو غټ بار د هغې پر اوږو پروت وو په داسی حالت کې انسان بیحاله وی او په داسی وخت کې کوچنۍ خبره هم دلویې ګیلې سبب کیدای سی او علیؓ (۲) د رسول اللهﷺ خفګان او غم ته په کتلو سره

(۱) عائشه صدیقهؓ فرمایې چی کله زه په دې تور او تهمت خبره سوم نو په زړه کې می دا راولویدل چی کوهی ته ځان وغورزوم او مړه شم (رواه الطبرانی فی الاوسط ورجاله ثقات مجمع الزوائد جلد /۹/ صفحه/ ۳۴)

(۲) معاذالله علیؓ دام المؤمنین عائشه صدیقهؓ په پاکوالی کښې یوه ذره شک هم نه وو داخبره یې یوازې د رسول کریمﷺ د دتسلی لپاره وکړه هدف یې دا وو چی دغم او خفګان له کبله په بیلوالی کې تلوار مه کوه بلکې یو ځل څیړنه وکړه او تردې مخکې باید هیڅ پریکړه ونه کړې او له بریرهؓ څخه د پوښتنی کولو مشوره یې هم له دې کبله ورکړه چی دهغې په اړه دعلیؓ پوره باور او یقین وو چی هغه تر ما دام المؤمنینؓ په پاکوالی ښه خبره ده (فتح الباری جلد ۸ /ص/ ۳۸۷)

سیف لودین کتابتون

درسول کریم ﷺ د زړه د آرام او ډاډ لپاره یې دا مشوره ورکړه په ښکاره خویښ نبی کریم ﷺ ته ترجیح ورکړه او پټ او په ضمنی ډول یې د عائشه صدیقه رضی الله عنها برائت او پاکی داسی ښکاره کړه چی اې رسول الله ﷺ ته خفه کیږه مه ژرده چی د الله ﷻ له لوری به دا حقیقت څرګندیږی او اوس دستی له بریره رضی الله عنها څخه پوښتنه وکړه رسول الله ﷺ بریره رضی الله عنها راوغوښته د مقیم په روایت کې راغلی دی چی رسول الله ﷺ بریره رضی الله عنها راوغوښته او دا کلمات یې ورته وویل :

(اتشهدین انی رسول الله ﷺ قالت نعم قال فانی سألتک عن شئ فلاتکتمینه قالت نعم قال هل رأیت عن عائشة ماتکرهینه قالت لا) ژباړه : آیا ته شاهدی ورکوی چی زه د الله ﷻ رسول ﷺ یم بریره رضی الله عنها وویل هو ، نبی کریم ﷺ وویل زه لتا څخه د یو شئ پوښتنه کوم چی پټ یې نه کړی که داسی وکړی الله تعالی به یې ماته د وحی له لاری وښیی ، بریره رضی الله عنها وویل هو نه یې پټوم ، نبی کریم ﷺ وویل آیا تا له عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه کوم بدکار لیدلی دی ؟ بریره رضی الله عنها وویل ، نه

د بخاری په روایت کې راغلی دی چی نبی کریم ﷺ بریره رضی الله عنها ته وویل : اې بریره رضی الله عنها (هل رأیت من شئ یریبک) اې بریره رضی الله عنها آیا که تا د یوی زری په اندازه د شک او شبهی شئ لیدلی وی چی په هغه سره ستا شک او شبه پیدا سوی وی نو هم راته ووایه ؟ بریره رضی الله عنها وویل (لاوالذی بعثک بالحق ان رأیت عنها امرا اغمضه علیها سوی انها جاریة حدیثة السن تنام عن عجین اهلها فتأتی الداجن فتأکله) ژباړه : قسم دی په هغه پاک ذات باندی چی ته یې په حق رالیږلی یې ماله عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه هیڅ عیبجن شئ او بده خبره نده لیدلی او نه اوریدلی مګر دا چی هغه یوه کم عمره انجلۍ ده کله چی اوړه لمده وی داویده سوی وی مرغومی راسی له هغې څخه اوړه وخوری خو دا په خبره هم نه وی .

یعنی هغه دومره ناخبره ده چی هغه له اوړو څخه هم خبره نده هغه د دنیا دا چالاکی څنګه پیژندلای سی (هذا ماقاله ابن المنیر نورالله وجهه یوم القیامة فی شرح هذا الکلام)

رسول الله ﷺ د بریره رضی الله عنها ځواب واوریدی سمدستی مسجد ته راغلی او منبر ته پورته سو او وعظ یې وکی لومړی یې د الله ﷻ حمد او ستاینه وکړه او بیا یې د عبدالله بن ابی په اړه وفرمایل : (یامعشرالمسلمین من یعذرنی من رجل قدبلغنی اذاه فی اهل بیتی فوالله ماعلمت علی اهلی الاخیرا ولقدذکروا رجلاماعلمت علیه الاخیرا) ژباړه : اې د مسلمانانو ټولۍ څوک دی چی زما د هغه سړی په مقابله کې مرسته وکړی چی هغه ماته زما د اهل بیت په اړه زیان رسولی دی قسم په الله ﷻ ما د خپل اهل څخه پرته له نیکۍ او پاک لمنۍ بل هیڅ نه دی لیدلی او ربنتیا هم د هغه سړی چی دا منافقین یې نوم اخلی له نیکۍ پرته ماله هغه بل څه ندی لیدلی

سيف لودين كتابتون

داوس قبیلی مشر سعدبن معاذ﷛ چی کله د رسول الله ﷺ د مرستی خبره واوریدله ولاړ رسو اوغوښتنه یې وکړه چی یارسول الله ﷺ زه ستاد مرستی لپاره تیاریم که داسړی زموږ له قبیلی څخه وی نوموږ د هغه په خپله سرپریکوو اوکه دخزرج له قبیلی څخه وی نوته امروکړه موږبه ستاامرمنو سعدبن عباده﷛ دخزرج قبیلی مشر دافکروکړ چی سعدبن معاذ﷛ پرموږ باندی داتورتپی چی داتورلګونکی له خزرج قبیلی څخه دی په دې وجه هغه په جوش کې راغلی لکه چی دابن اسحاق په روایت کې ددې څرګندونه سوی ده سعدبن عباده ﷛ ولاړ رسو اوسعدبن معاذ﷛ ته یې وویل قسم په الله ﷻ ته هغه هیڅری هم نه سی وژلای یعنی که زموږ د قبیلی څخه وی نوموږ په خپله هغه وژنو تاته اجازه نه درکوو دسعدبن معاذ﷛ داکازوی اسیدبن حضیر﷛ ولاړ رسو اوسعدبن عباده ﷛ ته یې وویل ته غلط وایې رسول الله ﷺ چی کله موږته دچادوژلوامروکوی نوموږبه خامخاهغه قتل کوو که څه هم له خزرج قبیلی څخه وی یاله بلی قبیلی وی هیڅوک موږنه سی منع کولای اوآیاته منافق یې چی دمنافقینوله لوری مبارزه کوی اوځواب وایې داخبری تیزی سوی نژدی ووچی ددواړوقبیلوترمینځ جګړه وسی رسول الله ﷺ له منبره راکښته سو اوخلک یې آرام کړل ،

عائشه صدیقه ﵂ فرمایې چی داورځ هم ټوله پرماپه ژړاتیره سوه دیوګړی لپاره مې اوښکی نه دی وچی سوی شپه هم دغه رنګه تیره سوه زماددی حال څخه زماپلاردافکروکړ چی کیدای سی له ډیره غمه ددې زړه وچوی کله چی سهارسو نوراغلی اوزماڅنګ ته نژدی کښیناستی ماژړل په دې وخت کې دانصارو﵃ یوه ښځه راغله اوهغې هم زماسره ژړل په همدی وخت کې ناڅاپه رسول الله ﷺ تشریف راوړی اوسلام یې وکی اوزماوخواته کښیناستی له دې پیښی وروسته رسول الله ﷺ زماڅنګ ته نه ووکیناستلی ، دوحی په انتظاریوه میاشت تیره سوی وه

رسول الله ﷺ چی کله زماوڅنګ ته کیناستی لومړی یې دالله ﷻ حمداوثناوویل اوبیایې داسی وفرمایل (امابعدیاعائشه فانه بلغنی عنک کذا وکذا فان کنت بریئة فسیبرئک الله وان کنت الممت بذنب فاستغفری الله وتوبی الیه فان العبداذااعترف بذنبه ثم تاب الی الله تاب الله علیه) ژباړه : ای عائشه ﵂ ماته ستاله لوری داسی خبری رارسیدلی دی که ته پاکه یې نوژرده چی الله تعالی به خامخاتابری کوی (۱) اوکه تادکومی ګناه ارتکاب کړی وی نوالله ﷻ ته توبه وکاږه اوبخښنه وغواړه ځکه بنده چی کله دخپلی ګناه اقراروکوی اوالله ﷻ ته رجوع وکوی نوالله تعالی دده توبه قبلوی ..

---

(۱) دادخامخالفظ دفسیبرئک دسین معنی ده له سسوبه څخه نقل سوی دی چی سین په مضارع مثبت کی داسی مفیددی

سيف لودين کتابتون

عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمايي چې کله نبی کریم ﷺ خپلی خبرپوره کړی په دغه وخت کې زما اوښکی ودریدلی اوداوښکویو څاڅکئ هم زما په سترګو کې پاته نه سو ماخپل پلارته ووېل چې رسول الله ﷺ ته زما له لوری جواب ورکړه پلار راته ووېل زه نه پوهېږم چې څه ځواب ورکړم بیامی خپلی مورته ووېل چې ته ځواب ورکړه هغې هم راته ووېل زه نه پوهېږم تردی وروسته ماپه خپله ځواب ورکی اوورته ومی ویل ، چې الله عزوجل خوپه دې ښه خبردی چې زه بېخی پاکه یم مګر داخبره ستاسوپه زړوکې دومره ټینګه سوی ده چې که زه هرڅومره ووایم چې زه پاکه یم او الله عزوجل هم په دې ښه خبردی چې زه پاکه یم خو ستاسو یقین نه راځی بالفرض که زه اقراروکړم اوسره له دی الله تعالی ښه په دې خبردی چې زه پاکه یم نوتاسو یقین کوی ، اوپه ژړامی ووېل (والله لااتوب مماذکروا ابداً) ژباړه : قسم په هغه الله عزوجل چې زماپه پاکی خبردی زه دهغه شئ څخه هیڅ کله توبه نه کاږم ، کوم چې داخلک یې په ماپوری تړی بس زه داسی وایم لکه دیوسف عليه السلام پلارچې ویلی وو (۱) فصبر جمیل والله المستعان علی ماتصفون) له دې خبری وروسته زه پربستره پریوتم اوپه دغه وخت کې مې په زړه کې داپوره باوروو چې الله تعالی به ماخامخا مابری کوی مګر داوهم اوګمان می نه وو چې زماپه اړه به الله تعالی داسې وحی نازلوی چې دهغې تلاوت به همیشه کیږی ..

اوپه یوه روایت کې راغلی دی چې زمادافکرنه ووچې دقرآن کریم آیتونه به زماپه اړه نازلیږی اوهغه به په مسجدونو اولمنځوکې لوستل کیږی خوداهلیه می وه چې رسول الله ﷺ ته به دخوب له لاری وحی کیږی اوزمادبرائت اوپاکی به رسول الله ﷺ ته ښودل کیږی اوزه به له هغه توره چې منافقینو په ماپوری تړلی دی پاکیږم ..

دبرائت اوپاکوالی داآیاتونه دامت محمدیه ﷺ دپاکې مریم اوخیرالبریه محبوبه اطهرام المؤمنین عائشه صدیقه رضي الله عنها بنت صدیق اکبررضی الله تعالی عنها وعن ابیها وعمّن آمن ببرائتها ونزاهتها ولعن الله من شک فی عصمتها وطهارتها (۲) آمین ثم آمین په اړه نازل سو

رسول الله ﷺ لاتراوسه له هغه ځایه نه وو ولاړسوی چې ناڅاپه پرنبی کریم ﷺ دوحی آثار ښکاره سو په ډیریخ کې دده پرتندی مبارک دملغلروپه څیر خولی راوبهیدلی ، دابن اسحاق په روایت کې راغلی دی چې عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمايي (فاما انا فوالله مافزعت قدعرفت انی بریئة وان الله غیرظالمی واماابوای فماسری عن رسول الله ﷺ حتی ظننت لتخرجن انفسهما خوفامن ان یأتی من الله تحقیق مایقول الناس) ژباړه : عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمايي چې کله په نبی کریم ﷺ باندی دوحی نازلیدل پیل سو قسم په الله عزوجل زه بېخی ونه ویریدم ځکه زه پوهیدم

---

(۱) عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمايي چې ماته دیوسف عليه السلام پلار یعقوب عليه السلام رایاد سو ..

(۲) راضی دی وی الله تعالی له عائشه صدیقه رضي الله عنها اودهغې له موره اودهغې له پلار څخه اوله هرهغه چاڅخه چې دهغې په پاکی باندی ایمان راوړی دی اولعنت دی وی دالله عز وجل پرهغه سړی باندی چې دهغې په پاک لمنې اوپاکوالی کې څه شک

چې زه پاکه یم او الله تعالی په ما ظلم نه کوی مګر زما د مور او پلار دېیری دا حالت وو چې زه وېیریدم چې د دوئ روح ونه وزی دوئ پردی ویریدل چې هسې نه وحی د تور موافق نازله سی لکه څنګه چې خلک وایي.

عائشه ﷺ وایي دابوبکر صدیق ﷺ دا حالت وو چې کله به یې رسول الله ﷺ ته کتل او کله به یې ماته کله چې به یې رسول الله ﷺ ته کتل نو پردی به ویریدی چې معلومه نه ده چې له اسمان څه حکم نازلیږی چې هغه بیا تر قیامته پوری نه سی بدلیدای او کله چې به یې ماته وکتل نو زما آرام او ډاډ ته په کتو سره به یې یو قسم هیله پیدا سوه له عائشه صدیقه ﷺ پر ته ټول کور په دې ویره او امید کې وو کله چې د اسمان وحی پای ته ورسیده او د نبی کریم ﷺ پر مخ مبارک د خوښی نښې او تازه والی ښکاره سو په خنداسره یې په لاس مبارک خولې وچولی عائشه صدیقه ﷺ وخواته یې وکتل او لومړی خبره چې د نبی کریم ﷺ له ژبی مبارکی څخه ووتله هغه داوه (ابشر یاعائشه فقد انزل الله برائتک(۱) ژباړه: زیرئ مې درباندی اې عائشې صدیقه ﷺ ربښتیا هم الله تعالی ستا پاکی نازل کړه. زما مور راته وویل اې عائشه ﷺ ولاړه سه او د رسو ل الله ﷺ شکریه ادا کړه ما ورته ویول قسم په الله ﷻ که پر ته له الله ﷻ چې هغه زما پاکی نازل کړه که د هیچا شکریه ادا کړم **باریکي**: د عائشه صدیقه ﷺ د دې لوی غم او مصیبت له کبله د هغې داسی کیفیت وو لکه د مریم علیها السلام چې وو (یٰلَیۡتَنِیۡ مِتُّ قَبۡلَ هٰذَا وَ کُنۡتُ نَسۡیًا مَّنۡسِیًّا) د دې د نا امیدی په نړه کې چې کله د قرآن کریم لس آیتونه (تلک عشرة کاملة) د عائشې صدیقی ﷺ د پوره پاکۍ په بیان کې نازل سو نو په عائشه صدیقه ﷺ باندی د بیهوښی حالت راغلی چې له الله ﷻ پر ته یې بل چا ته نظر نه وو که داسی نه وی نو د الله ﷻ دا نعمت او اسمانی وحی ټول د رسول الله ﷺ د وحی په سبب سره وو او د واسطی او ذریعې شکر هم واجب دی د عائشې صدیقه ﷺ په دې بیهوښه حالت کې د نبی کریم ﷺ د شکر نه ادا کول د ناز او مینی څخه وو او د ناز حقیقت دادی چې زړه د کوم شئ څخه ډک وی په ژبه د هغه خلاف کار ښکاره کوی په ښکاره تریو تندی او بې پروایي او زړه د عشق او مینی څخه ډک وی په ښکاره یو ناز وو مګر په زرګونو نازونه په هغه کې پټ پراته وو.

تردی ورسته نبی کریم ﷺ وفرمایل چې الله تعالی په دې اړه دا آیتونه نازل کړه: اِنَّ الَّذِیۡنَ جَآءُوۡ بِالۡاِفۡکِ عُصۡبَةٌ مِّنۡکُمۡ لَا تَحۡسَبُوۡهُ شَرًّا لَّکُمۡ بَلۡ هُوَ خَیۡرٌ لَّکُمۡ لِکُلِّ امۡرِیٴٍ مِّنۡهُمۡ مَّا اکۡتَسَبَ مِنَ الۡاِثۡمِ وَالَّذِیۡ تَوَلّٰی کِبۡرَهٗ مِنۡهُمۡ لَهٗ عَذَابٌ عَظِیۡمٌ لَوۡلَاۤ اِذۡ سَمِعۡتُمُوۡهُ ظَنَّ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتُ بِاَنۡفُسِهِمۡ خَیۡرًا وَّقَالُوۡا هٰذَاۤ اِفۡکٌ مُّبِیۡنٌ. لَوۡلَا جَآءُوۡ عَلَیۡهِ بِاَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاِذۡ لَمۡ یَاۡتُوۡا بِالشُّهَدَآءِ فَاُولٰٓئِکَ عِنۡدَ اللّٰهِ هُمُ الۡکٰذِبُوۡنَ. وَلَوۡلَا فَضۡلُ اللّٰهِ عَلَیۡکُمۡ وَرَحۡمَتُهٗ فِی الدُّنۡیَا وَالۡاٰخِرَةِ لَمَسَّکُمۡ فِیۡ مَاۤ اَفَضۡتُمۡ فِیۡهِ عَذَابٌ عَظِیۡمٌ. اِذۡ تَلَقَّوۡنَهٗ بِاَلۡسِنَتِکُمۡ وَتَقُوۡلُوۡنَ بِاَفۡوَاهِکُمۡ مَّا لَیۡسَ لَکُمۡ بِهٖ عِلۡمٌ وَّتَحۡسَبُوۡنَهٗ هَیِّنًا وَّهُوَ عِنۡدَ اللّٰهِ عَظِیۡمٌ. وَلَوۡلَاۤ اِذۡ سَمِعۡتُمُوۡهُ قُلۡتُمۡ مَّا یَکُوۡنُ لَنَاۤ اَنۡ نَّتَکَلَّمَ بِهٰذَا سُبۡحٰنَکَ هٰذَا بُهۡتَانٌ عَظِیۡمٌ یَعِظُکُمُ اللّٰهُ اَنۡ تَعُوۡدُوۡا لِمِثۡلِهٖۤ اَبَدًا اِنۡ کُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ. وَیُبَیِّنُ اللّٰهُ لَکُمُ الۡاٰیٰتِ وَاللّٰهُ عَلِیۡمٌ حَکِیۡمٌ. اِنَّ الَّذِیۡنَ یُحِبُّوۡنَ اَنۡ تَشِیۡعَ الۡفَاحِشَةُ فِی الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِیۡمٌ. فِی الدُّنۡیَا وَالۡاٰخِرَةِ. وَاللّٰهُ یَعۡلَمُ وَاَنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ. وَلَوۡلَا فَضۡلُ اللّٰهِ عَلَیۡکُمۡ وَرَحۡمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوۡفٌ رَّحِیۡمٌ (سورة النور آیت ۱۱، ۱۲)

---

(۱) ... د الفاظ دي (یاعائشه اما الله عز وجل فقد برأک

سیف لودین کتابتون

ژباړه : ربښتیاهم کومو خلکو چې دادروغ راوړی دی هغه په تاسو کې یوه ټولی ده تاسو دا دځان دپاره شرمه بولی بلکې داپه حقیقت کې ستاسو لپاره خیردی دهرسړی دپاره دګناه هغومره برخه ده څومره چې هغه کړی ده او څوک چې ددی دروغو دلویې برخی خاوندی دهغه دپاره لوی عذاب دی ددې خبری په اوریدو سره مسلمانانو ښځو او نارینه وو دخپل ځان په اړه ولی ښه ګمانه نه کوی او ولی یې داسی ونه ویل چې دا ښکاره بهتان دی او ولی یې پردی باندی څلور شاهدان رانه وړل نو کله چې دوئ شاهدان رانه وړل نو دا خلک دالله ﷻ په نزد دروغجن دی او که په تاسو باندی په دنیا او آخرت کې دالله ﷻ فضل او مهربانی نه وای نو تاسو ته به یې په هغه شی کې چې تاسو په کښی خبری کولی سخت عذاب در رسولی کله چې تاسو داپه خپلو ژبو سره نقل کول او په خپلو خولو سره مو داسی خبری کولی چې په هغې باندی تاسو خبرهم نه واست او تاسو دا آسان ګڼل او دالله ﷻ په نزد ډیرلوی وو ، او تاسو ددې خبری په اوریدو سره داسی ولی نه ویل چې زموږ دپاره داسی خبری په ژبه راوستل مناسب نه دی تاسو ته داسی ویل په کار وو چې سبحان الله دا خو ډیرلوی بهتان دی الله تعالی تاسو ته لارښود نه کوی چې بیا داسی چلند ونه کړی که تاسو مؤمنان یاست او الله تعالی ستاسو لپاره خپل احکام په ښکاره ډول سره بیانوی او الله تعالی پوه او حکمت والادی ربښتیاهم کوم خلک چې دا خبره خوښوی چې دبی حیایې خبره په مسلمانانو کې خپره سی دهغوئ لپاره په دنیا او آخرت کې دردناک عذاب دی او الله تعالی ښه پوهیږی او تاسو نه پوهیږی او که دالله ﷻ فضل او مهربانی نه وای نو نه وو معلوم چې کوم غم به پر تاسو راتلی .

رسول الله ﷺ چې کله دبرائت دآیاتو له لوستلو فارغ سو او صدیق اکبر رضی الله عنه دخپل زړه دټوټې پاک لمنی او پاکی لور پر برائت او پاکی باندی دالله ﷻ شاهدی واوریده نو ولاړ سو او دخپلی پاکی لور تندی یې مچ کی لوریې ورته وویل (الاعذرتنی) اې پلاره مخکې دی ولی زه معذوره اوبی ګناه نه ګڼلم ؟ صدیق اکبر رضی الله عنه چې دده په رګواووینه کې صدق او ربښتیا اخښلی وو دصدق او ربښتینوالی یوغټ غرو و هر څومره لوی و پیښو هغه له سمی لاری وانه ړوی په دغه وخت کې خپلی لور ته داسی ځواب ورکوی چې هغه دزړه پر تخته باندی دلیکلو وړدی :(اَیُّ سَمَاءٍ تُظِلُّنِیْ وَاَیُّ اَرْضٍ تَقُلُّنِیْ اِذَاقُلْتُ مَالَمْ اَعْلَمُ)

---

(۱) یعنی اې دابوبکر رضی الله عنه کورنی. تاسو دا خبره دځان لپاره بده مه ګڼی بلکې دا په دنیا او آخرت کې ستاسو لپاره غوره ده ځکه تر قیامته پوری به ستاسو پر پاک لمنی او عفت باندی مهر و وهل سی ۱۲..

(۲) دیوسړی دښځې په اړه له ژبی څخه داسی خبره راوتل چې دهغه ځیرنه نه وی سوی ډیره سخته ګناه ده په ځانګړی ډول بیا دخاتم الانبیاء والمرسلین ﷺ دبی بی رضی الله عنها په اړه چې دا دټولو مسلمانانو روحانی مورده ددې په اړه داسی خبره له ژبی وتل ډیره لویه ګناه ده دالله تعالی غیرت ددې کله زغم کولای سی چې هغه رسول اکرم سید ولد آدم اکرم الاولین والآخرین ﷺ بی بی صدیقه رضی الله عنها دی فاجره وی (تفسیر ابن کثیر)

سیف لودین کتابتون

اې لوړی کوم آسمان به په ما باندې سایه وکړي او کومه ځمکه به ما پورته کړي کله چې زه دخپلې ژبې څخه هغه خبره وکړم چې زه په هغه نه یم خبر..

حافظ عسقلاني په فتح الباري کې دا اثر د طبري او ابوعوانه په حواله سره نقل کړی دی او علامه الوسی فرمايي ، اخرجه البزار بسند صحيح عن عائشة ؓ . روح المعاني جلد ۱۸ / صفحه ۱۰۹)

وروسته رسول الله ﷺ د صديق اکبر ؓ له کوره ووتی او مسجد ته يې تشريف راوړی او صحابه کرام ؓ ته يې وعظ او نصيحت وکی او دعائشې صديقه ؓ په برائت کې نازل شوی آيتونه يې د ټولو خلکو په مخکې ولوستل .

ددې لويه فتنې خپرونکي خو په لوی سرکې منافقين وو د الله ﷻ په حمد او ستايلو سره مسلمانانو برخه پکې نه دلوده يوائې دوه درې مسلمانان د خپلې سادګۍ په وجه منافقينو خطا ايستلي وو چې د هغوئ نمونه په لاندې ډول دی ، ۱، مسطح بن اثاثه ؓ ،۲، حسان بن ثابت ؓ ، ۳، حمنه بنت حجش ؓ پردوی باندې حدقذف جاري سو هريوا تيا اتيا دُرې ووهل سو او د خپلې ګناه څخه يې توبه وکښه دعبدالله بن اُبي په اړه مشهور قول دادی چې هغه ته سزاورنه کړل سوه ځکه هغه منافق وو او ديو شمير روايا تو څخه معلوميږي چې پر هغه باندې هم حد جاري سو ، والله تعالی اعلم .

مسطح ؓ د صديق اکبر ؓ د خاله زوی وو د غريبې او بيوزلې په وجه به صديق اکبر ؓ له ده سره مرسته کوله مسطح ؓ هم په دې پيښه کې برخه واخيسته ځکه ابوبکر صديق ؓ قسم وکې چې زه به او س مسطح ؓ ته هيڅکله شئ نه ورکوم ،

په دې اړه الله تعالی دا آيت نازل کي : وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنكُمْ وَالسَّعَةِ أَن يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (سورة النور آيت ۲۲)

ژباړه : کوم کسان چې په تاسو کې د فضيلت او پراخي خاوندان دی هغوئ ته په کار ده چې دا قسم ونه کوی چې زه به له خپلوانو او بيوزلو او مهاجرو سره مرسته نه کوم دوئ ته په کار ده چې ببښنه ورته و کړي او مخ واړوی آيا تاسو دانه خوښوي چې الله تعالی ستا ګناهونه وبښي او الله ﷻ ډير ببښونکي او مهربان ذات دی .

کله چې رسول الله ﷺ دا آيت و صديق اکبر ؓ ته واوروی نو ده وويل (بلی والله انی لاحب ان يغفر الله لی) ژباړه :ولی نه قسم په الله ﷻ زه رښتيا خامخا ډير خوښوم چې الله ﷻ زما ګناهونه راوبښي .

ابوبکر صديق ؓ مسطح ؓ ته بيرته د تير په څير مرسته کول پيل کړه او قسم يې وکی چې والله له مسطح ؓ څخه به زه هيڅ کله مرسته نه بندوم ، په معجم طبراني کې راغلي دی چې مخکې چې يې څومره کومک ورسره کوی هغه يې دوچنده کي (دا ټول تفصيل په صحيح بخاري او فتح الباري په سورت نور کې يادسوی دی دا حديث د صحيح بخاري په

سیف لودین کتابتون

ډيرو رواياتوکې يادسوي دي ، مګر حافظ عسقلاني ددي حديث تفصيل بيان په کتاب التفسيرکې کړي دي دتور لګولو ډيبښي له پيله بياتردي ځايه چي ځومره پيښي موږ بيان کي داټولي دصحيح بخاري او فتح الباري څخه را اخيستل سوي دي ..

نکته : ددې آيت کريمه يعنی د (ولايأتل اولو الفضل) په نازليدو سره صديق اکبر ﷺ ته خبردار ی وو چي دصديقيت دمقام او کمال له دائري دباندي مه وزه دغلطي او خطاله کبله که څه هم دمسطح ﷺ مرسته بندول جائزوو مګر دصديقيت دمرتبي غوښتنه داده چي دبدی بدله په نيکۍ سره ورکړي ابوبکرصديق ﷺ په دې خبرداري پوه سو او دمخکې په پرتله يې دمسطح ﷺ مرسته دوچنده کړه که څه هم مسطح غلطي وکړه چي دمنافقينو په خبروباندی يې باوروکي مګر مسطح ﷺ له بدريانو څخه وو له هغوخلکوچي الله تعالی ددوئ په اړه ويلي (اِعْمَلُوْا مَاشِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ) هرکله چي دئ له بدريانو څخه وو ځکه دده شفاعت وکړل سو چي اې ابوبکرصديق ﷺ ته دفضل او مهربانۍ له خاوندانو څخه يې او مسطح ﷺ له اهل بدر څخه دی نوته دهغه په مرسته کې کمبود مه کوه داوله مسطح ﷺ څخه چي کومه غلطي سوي ده هغه وبښه الله تعالی به ستاګناهونه وبښي ..

ف :، داآيت کريمه دصديق اکبر ﷺ دفضيلت او غوراوي ښکاره دليل دی تردی به بل کوم لوی دليل وی چي الله تعالی ابوبکرصديق ﷺ ته اولوالفضل يعنی دفضيلت خاوندوويل داآيت دصديق اکبر ﷺ په اړه وو وروسته بيانورڅوآياتونه دعائشه صديقه ﷺ دبرائت په اړه دي : اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوْا فِيْ الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ بِمَاكَانُوْا يَعْمَلُوْنَ يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيْهِمُ اللهُ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ اَلْخَبِيْثَاتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ وَ الْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثَاتِ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِيْنَ وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبَاتِ اُوْلٰئِكَ مُبَرَّؤُوْنَ مِمَّا يَقُوْلُوْنَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيْمٌ (سورة النور آيت ۲۳ـ۲۶)

ژباړه : رښتياهم کوم کسان چي په داسي پاک لمنو اوناخبره ښځوباندی تورپوری کوی اوهغوئ له دارنګه خبروڅخه بيخي ناخبره دي اومؤمناني دي پر داسی تور لګونکوباندی په دنيااوآخرت کې لعنت دی اوددوئ لپاره په آخرت کې لوی عذا ب دی په کومه ورځ چي ددوئ په خلاف ددوئ ژبی اولاسونه اوپښي شاهدی ورکوی چي دې خلکوبه داکارکوی په هغه ورځ به الله تعالی دوئ ته پوره سزاء ورکوی کومه چي ددوئ لپاره په کارده اوپوه به سی چي الله تعالی حق دی اوعدل اوحق ښکاره کونکي دی ، ناپاکی ښځی دناپاکوسړولپاره مناسب دی اوناپاک سړی دناپاکوښځولپاره مناسب دی اوپاکی ښځی دپاکوسړولپاره اوپاک سړی دپاکوښځولپاره دی داکسان دهغه شئ څخه بيخي پاک اوبری دی چي داخلک يې ورپسی وايې دهغوئ لپاره دالله ﷻ ښښنه اوعزتمند رزق دی .

سيف لودين كتابتون

ف :. ۱. له دې آياتو څخه دام المؤمنين عائشه صديقه رضي الله عنها فضيلت مرتبه غوره والی ښه څرګند سو الله تعالی هغه پاکه کړه او طيّبه يې ورته وويل او دښېنې او عزتمند روزي ژمنه يې وکړه چې په سيرة دعائشه صديقه رضي الله عنها کې ښښنه يقيني کيدل معلوم سو عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايې چې زما فکر داوو چې زما دپاکۍ په اړه به رسول الله ته په خوب کې څه وښول سي مګر دافکر مې بيخي نه وو چې زما دپاکۍ په اړه به په قرآن کريم آيتونه نازليږي او دهغو آياتو به هميشه تلاوت کيږي يعني دا وهم او ګمان مې هم نه وو چې ترقيامته پورې به زما دبرائت او پاکوالي اعلانونه په مسجدونو او محرابو او منبرو او په يو ائي ځايو کې کيږي دبرائت په اړه لس آيتونه نازل سو او لس شمير هغه پوره شمير دی چې په (تلک عشرة کاملة) مطلب دادی چې دمريم عليها السلام صديقه په څير عائشه رضي الله عنها هم صديقه او پاک لمنې ده او پاکۍ يې بې مثاله ده او دکمال حد ته رسيدلې ده او ددې دپاکوالي اعلان هم دکمال حد ته رسيدلی دی چې ترقيامته پورې به جاري وي له دې کبله ده چې کله دمسطح رضي الله عنه مور مسطح رضي الله عنه ته بد رد وويل نو عائشې صديقې رضي الله عنها دمسطح رضي الله عنه مور منع کړه چې مسطح ته بد مه وايه ځکه مسطح رضي الله عنه له لومړنيو مهاجرينو او بدريانو څخه دی ،

دويمه فايده (وَلَا يَأْتَلِ أُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ) الى اخر الاية) له دې آيت څخه دابوبکرصديق رضي الله عنه فضيلت او غوره والی په ښکاره معلوم سو ځکه الله تعالی چې وچاته دفضل خاوند وو ايې دهغه په فضل او کمال کې څه شک او شبه کيدای سي ، امام رازي په تفسير کې په څورلس طريقو سره دابوبکرصديق رضي الله عنه فضيلت له دې آيت څخه ثابت کړی دی ، علماء دې تفسير کبير ته رجوع وکړي .

دريمه فايده : دتهمت او تورپورې کولوله پيښي څخه دابوبکرصديق رضي الله عنه پوره تقوی او پرهيزګاري معلوميږي چې داپيښه تريوې مياشت زياته اوږده سوه مګرده دلور په طرف داري کې يې تکی هم له ژبې نه ووتی دډيرغم او خفګان له وجې يوائې دابوبکرصديق رضي الله عنه له ژبې داووتل (والله ماقيل لناهذا فی الجاهلية فکيف بعدما اعزنا الله باالاسلام (رواه الطبرانی عن ابن عمر رضي الله عنه . فتح الباری جلد۷/ صفحه ۳۶۹

ژباړه : قسم په الله جل جلاله دا خبره خو موږته دجاهليت په وخت کې هم هيڅ کله نه ده ويل سوې بياکله چې الله تعالی موږته په اسلا م سره عزت راکړی نو دهغه څخه وروسته داڅنګه کيدای سي ، حافظ ابن قيم رحمه الله فرمايې چې داپيښه دالله جل جلاله له لورې يوازمويښت اوامتحان وو مقصد داوو چې دمؤمنانو مخلصانو ايمان او اخلاص اودمنافقينو منافقت ښکاره او روښانه سي نو درښتيني مومنانو په ايمان او استقامت کې اودمنافقينو په

سیف لودین کتابتون

منافقت اوبدبختي کې زیادت وسي ، اوهمدارنګه داخبره ښکاره اوپه ډاګه سي چي څوک دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ اودهغه پرکورني ښه ګمان ولري اوڅوک چي بدګمان دنبي کریم ﷺ په ازواج مطهرات په اړه کوي په حقیقت کې هغه په الله ﷻ باندي بدګمان ده چي هغه دخپل لوی حبیب اودوست محترم اشرف المخلوقات دزوجیت لپاره معاذالله یوه بیکاره اوناوړه څوک مقرره کړی ده ، سبحانه وتعالی من ذلک علوا کبیرا

اوبل ددې لپاره چي الله تعالی دخپل رسول ﷺ عزتمند اوپاک حرم مرتبه خلکوته ښکاره کړي ځکه یې دنبي کریم ﷺ دبي بي پاکوالی اوبرائت دهغه په ژبه نه وکی بلکې الله ﷻ په خپله دهغې برائت کفیل اوذمه وارسو اوپه خپلو معجزکلام کې یې دهغې برائت بیان کي چي هغه ترقیامته پوري په مسجدونو، مجلسونو منبرونو، مدرسو، خطبو، اولمنځو کې تل تلاوت کیږي .

دالله ﷻ غیرت داونه زغمله چي هغه دراليږل سوی پاک رسول ﷺ دپاکو بيبيانو رضی الله عنهن په شان کې یومنافق اوبدګمانه هیڅ یوه ناپاکه خبره له خولي ونه باسی ځکه یې په دې اړه تقریباً شل آیتونه نازل کړه اودعائشي صدیقي ﷺ اوازواج مطهراتو په پاکی اوبرائت باندي یې ترقیامته پوري مهرولګوی اودپاکو بیبیانو په پاک لمني اوبرائت کې شک کونکوته یې دومره رټنه ورکړه چي هغه یې په بت پرستو باندي هم نه ده کړي ، ځکه ربښتیني علماء داپه ډاګه کړی ده چي کوم سړی دامهات المؤمنین په اړه یوحرف له خولي وباسي هغه منافق دی ،

اودوحی نازلیدل چي یوه میاشت وروسته وسو په دې کې داحکمت وو چي عائشه صدیقه ﷺ دعبودیت مقام لوړی ځیني ته وخیژي چي کله مظلومانه ژړا اوزاری اوعاجزانه غم اودالله ﷻ په دربارکې په بې وسي اوناوسی اوبې وزلی کې پای ته ورسیږي اودالله ﷻ څخه پرته دهیچا څخه هیله اوامیدپاته نه سي اودالله ﷻ اودالله ﷻ درسول ﷺ دښه ګمان کونکوزړونه دوحی په انتظارکې دبې اوبوماهي په څیرترپیدل په همدی وخت کې الله تعالی دوحی په باران سره دخاصودوستانوزړونوته نوی ژوندورکی اوصدیقه بنت صدّیق ﷺ یې دبرائت اوپاک لمنی په ارزښتناک انعام سره ونازوله .

حافظ عسقلاني دتهمت اوتورپوري کولودپيښي فایدی اوباریکی اودهغه مسائل اواحکام په فتح الباری کې په ښه وضاحت سره لیکلی دی هغه چي له همدی حدیث څخه معلومیږی په دې ځای کې اوس ګنجائش نسته نوځکه دی علماء فتح الباری جلد /۸/ صفحه /۳۶۸تر۳۷۱پوري مطالعه کړی ..

(یادداشت: ... تاسو د دُعا محتاج کاتب حمدالله)

څلورمه فایده: دد ې آیاتو او روایتو څخه دا خبره په ډاګه معلومه سوه چې علم غیب پرته له الله ﷻ بل هیچا ته نسته ځکه نبی کریم ﷺ پوره یوه میاشت په غم او خفګان کې تیره کړه مګر د الله ﷻ له ښود لو پرته و هیچا ته ر ښتیا خبره نه وه معلومه

پنځمه فایده: دد ې حدیث څخه دا هم معلومه سوه چې دغصی او غضب په وخت کې دحق په پرتله دقوم او قبیلی ساتنه او طرفداری نه ده روا لکه چې اسید بن حضیر رضی الله عنه سعدؓ بن عباده رضی الله عنه ته وویل آیا ته منافق یې چې دمنافقینو لوری نیسی

په ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها او نورو پاکو بیبیانو پوری دتور پوری کونکو حکم

دقرآن کریم ددې آیاتو له نازلیدو وروسته چې هرڅوک په ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها بنت صدیق رضی الله عنه پاکه بی دسیدالانبیاء صلی الله علیه وسلم مبرأه من السماء باندی(۱) تورپوری کوی هغه په اجماع دأمت سره کافر او مرتد دی ځکه هغه دقرآن کریم ښکاره مُکَذِّب او منکر دی لکه څنګه چې دمریم بنت عمران علیها السلام په پاکی او پاک لمنی کې شَک کول بیشکه کفر دی او لکه څنګه چې یهود خبیثان په مریم صدیقه باندی دبهتان تړلو په وجه ملعون او غضب کړل سوی وګرزیدل دغه رنګه روافض شیعه ګان په عائشه صدیقه رضی الله عنها بنت صدیق باندی دتور پوری کولو په وجه ملعون او غضب کړل سوی دی په مریم صدیقه باندی بهتان ویونکی دامت عسویه یهودیان دی او په عائشه صدیقه رضی الله عنها باندی تورلګونکی دامت محمدیه یهودیان دی ،، داهل بیتو دیو شمیر امامانو په مخکې یو رافضی په ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها باندی تور وو ایو نو هغه سمدستی خپل مریی ته دهغه رافضی دسرپریکولو امر وکي او دایې ورته وفرمایل :

(هذا رجل طعن علی النبی ﷺ قال الله تعالی الخبیثات للخبیثین والخبیثون للخبیثات والطیبات للطیبین والطیبون للطیبات اولئک مبرون مما یقولون لهم مغفرة ورزق کریم . فان کانت عائشه خبیثة فالنبی صلی الله علیه وسلم خبیث فهو کافر فاضربوا عنقه فضربوه عنقه وانا حاضر (رواه اللآلکالی)

ژباړه :څوک چې په عائشه صدیقه رضی الله عنها باندی تورپوری کوی نو هغه په حقیقت کې په رسول الله ﷺ باندی تور لګوی ځکه دالله تعالی ارشاد دی چې خبیثات دخبیثو لپاره دی بیا تر پایه معاذالله ثم معاذالله که عائشه صدیقه رضی الله عنها خبیثه وی نو معاذالله ثم معاذالله دهغه نتیجه دا راوزی چې معاذالله ثم معاذالله نبی کریم ﷺ هم داسی

(۱) مبرأه من السماء : دهغې پاکوالی له اسمانه نازل سوی دی ددې په پاکوالی کې شک کول کفر دی ..

دمسروق به دا عادت وو چې کله به یې له عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه یو روایت کوی نو داسی به یې ویل چې صدیقه بنت صدیق

سیف لودین کتابتون

لازمیږي او کوم خبیث چې رسول الله ﷺ ته داوایي هغه بیشکه کافردی اوددې وړدی چې دهغه سرپریکړل سي تردې ویناوروسته یې دهغه رافضي سرغوڅ کی اوزه په دغه وخت کې حاضروم کله چې ددغه رافضي سرپریکړل سو ..

اودغه رنګه دحسن بن زید رحمه الله په مخکې دعراق یوسړی دام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها په شان کې ناوړه خبره وکړه حسن په دغه وخت کې سمدستي ولاړسو اویولرګی یې پرسرباندی په داسې زورسره ووهی چې دهغه سړی ماغزه راووتل اومړسو (کذافی الصارم المسلول علی شاتم الرسول للحافظ ابن تیمیه رحمة الله علیه

اوهمداشان دنوروبیبیانوپه اړه بدګماني کونکی هم کافراوواجب القتل دی لکه چې درسول الله ﷺ له مخکې بیان سوی خطبې څخه ښکاره معلومیږي چې هغه دمنبرپرسرداوفرمایل (یامعشرالمسلمین من یعذرنی من رجل قدبلغنی اذاه فی اهل بیتی) اې دمسلمانانوټولۍ څوک دی چې زمادهغه سړي په مقابله کې مرسته وکړي چې هغه ماته زمادکورنۍ په اړه ضرررارسولی دی ..

له دې څخه په ډاګه معلومیږي چې هرڅوک چې دنبي کریم ﷺ دکورنۍ په حق کې که عائشه صدیقه رضی الله عنها وي او که بله بي بي رضی الله عنها وي دارنګه ناپاکه خبره وکړي هغه دنبي کریم ﷺ لپاره دضرراوتکلیف رسولو سبب دی اوکوم سړی چې دالله ﷻ رسول ﷺ ته ضرر ورسوی هغه له شکه خلاص کافردی لکه چې الله تعالی فرمایلی دی :

(اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ اللهُ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِيْنًا ، الی قوله تعالی ، مَلْعُوْنِيْنَ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ، الایه)

دتفصیل لپاره الصارم المسلول صفحه ۴۱ بیاتر ۵۰ پوری وګوری

دنبي کریم ﷺ ددې وینا په کولوسره چې څوک شته چې لماسره دهغه سړي په مقابله کې مرسته وکړي چې هغه ماته اوزماکورنۍ اواهل بیت ته ضرررسولی دی سعدبن معاذ رضی الله عنه ولاړسو اووې ویل یارسول الله ﷺ مور دهغه دوژلولپاره په زړه اوبدن سره تیاریو په همدې وجه دعلماء پردې اتفاق دی چې څوک دعاموسلمانانوپه بیبیانوباندی تورتړي هغه فاسق اوفاجردی اوکوم خبیث چې دخپل خباثت په وجه درسول الله ﷺ په پاکوبیبیانوتورلګوی هغه بیشکه مرتداوکافردی .

اوبل داچې الله تعالی دنبي کریم ﷺ بیبیانوته امهات المؤمنین وویل یعنی دټولومؤمنانومیندی مورانی (اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗٓ اُمَّهٰتُهُمْ) نبي کریم ﷺ ومومنانوته دهغوئ ترځانوهم زیات نژدی دی اودنبي ﷺ بیبیانی دټولومؤمنانومورانی دی . معاذالله آیاالله تعالی کومه زناکاره اوفاجره به دی لوی لقب

سيف لودين کتابتون

سره په خپل کلام کې يادوي حاشاثم حاشا دابن عباس ﷺ وايي : (مابغت امرأة نبي قط) هيڅ کله دهيڅ نبي ﷺ ښځې زنا نه ده کړې (تفسيرابن کثير)

اوکوم پيغمبر ﷺ چې دالله ﷻ له لوري راليږل سوی وي ددې لپآره چې دښکاره اوپټې بې حيايې مخه ونيسي کله چې هغه پيغمبر ﷺ راغی په ځوورځوکی يې په ټول هيواداواقليم کې بې حيايې اوبې غيرتې په حيااوغيرت بدله کړه اوددوئ بدکاري يې په پاک لمنی اوخوندی توب سره بدل کړل آياددا سې پاک اوغوره رسول ﷺ په اړه داګمان کيدای سی چې معاذالله دهغه کورنۍ له بدکاريونده پاکه ، سبحانک هذا بهتان عظيم ، والله هذاافک مبين)

اوبل داچې الله تعالى چې څوک دنبوټ اورسالت په نعمت اوپه دې لوی منصب باندی ونازوی اوهغه خپل پاک اوغوره اوراضی اوسپيڅلی بنده وګرزوی جبرئيل ﷺ اوميکائيل ﷺ دهغه مبارک ﷺ وزيران وي دالله ﷻ له شان اوپاکوالی څخه ډيره ليری خبره ده چې الله ﷻ داکرم الخلائق اواشرف الکائنات دزوجيت اوملګرتياليپاره يوه ناپاکه اوزناکاره ښځه وټاکی په دې وجه الله تعالى وفرمايل : (وَلَوْلَاإِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَاأَن نَّتَكَلَّمَ بِهَذَاسُبْحَنَكَ هَذَا بُهْتَانٌ) تاسوددی خبری په اوريدوسره اول ځل داولی نه ويل چې زموږدپاره دانه ده روا چې داسې خبرپه ژبه باندی راوړوتاسوته داويل په کاروو چې سبحان الله داخوډيرلوی دروغ دی .

په دې ځای کې دسبحانک کلمه راوړلوسره ودې ته اشاره ده چې الله تعالى ددې څخه پاک دی چې دالله ﷻ دپاک اوغوره رسول ﷺ بی بی ﷺ ناپاکه وي په دې وجه تاسوته په کاروو چې ددی خبرپه اوريدوسره موويلی وای،، سبحانک هذابهتان عظيم ،، لکه چې سعدبن معاذ ﷺ اوابوايوب انصاری ﷺ اوزيدبن حارثه ﷺ چې کله داخبرواوريدی نوسمدستی ددوئ له ژبی داکلمه ووتله ، سبحانک هذا بهتان عظيم(١)

اوپه فتح الباری کې دابوايوب انصاری ﷺ اوسعدبن معاذ ﷺ پرته دزيدبن حارثه ﷺ پرځای اسامه ﷺ يادسوی دی لنډه داچې دپيغمبر ﷺ دبی بی په شان کې چې څوک داسې نامناسبه خبره کوی هغه ته کتل هم نه دی جائز دچاوښځي ته فاجره اوبدکاره ويل معنی داده چې دهغی خاونددیوث دی کوم خلک چې عائشه صديقه ﷺ باندی تورلګوی نوهغه دی پوه سی چې هغه ورسول ﷺ اطهرته څه وايي چې دهغه په تصورسره هم زړه بلی خواته اوړی .

---

(١) درمنثورج /٥/ ص /٣٤)

سیف لودین کتابتون

دتيمم دحکم نازليدل

له يو شمير روايا تو څخه دا معلوميږي چې له دې غزا په راستنيدو کې بيا دعائشې صديقه رضي الله عنها اميل ورک سو او دهغه په لټون کې قافله ودريده دسهار وخت راغلی او اوبه نه وې په همدې وخت کې دتيمم آيت نازل سو او صحابه کرام رضي الله عنهم تيمم وکی او دسهار لمونځ يې آداکې او ټول صحابه رضي الله عنهم ډير خوشاله وو ، اسيدبن حضير رضي الله عنه له ډير خوشالۍ داسې وويل (ماهي باول برکتکم يا آل ابی بکر) يعنی اې دابی بکر رضي الله عنه کورنۍ دتيم حکم نازليدل ستاسو اولنی برکت نه دی بلکې ستاسو په برکت سره نور ډير زيات دا ساتنيا حکمونه نازل سوی دی ،

خو محقيقين علماء وايې چې دتيمم آيت دبنی المصطلق په غزا کی نه دی سوی بلکې له دې غزا وروسته په بل سفر پيښ سوی دی چې په هغه کې دتيمم آيت نازل سو لکه چې په معجم طبراني کې له عائشه صديقه رضي الله عنها څخه روايت دی چې يو ځل زما اميل ورک سو چې په هغه باندی منافقينو چې څه وويل هغه تاسو ولوستل او تر هغه وروسته بيا په بل سفر کې زه د رسول الله ﷺ سره تللې وم او زما اميل بيا ورک سو او دهغه په لټون کې موږ پاته سو نو ابوبکر صديق رضي الله عنه عائشې صديقه رضي الله عنها ته وويل اې لورې ته په هر سفر کې دخلکو دپاره تکليف جوړيږی په دغه وخت کې الله تعالی دتيمم آيت نازل کې چې داوبو نه پيدا کيدو په وخت کې تيمم وهی او لمونځ کوی ، دتيمم رخصت او اسا تنيا په نازليدو سره ابوبکر صديق رضي الله عنه په ځانګړې ډول ډير خوشاله سو او عائشه صديقه رضي الله عنها ته يې درې ځله داو فرمايل (انک لمبارکة ، انک لمبارکة ، انک لمبارکة ،) اې لورې رښتياهم ته ډيره مبارکه يې اې لورې رښتياهم ته ډيره دبرکت خاونده يې ، اې لورې رښتياهم ته ډيره برکتمنده يې ،

له دې روايت څخه په ډاګه معلوميږي چې دتيمم آيت دبنی المصطلق په غزا کی نه دی سوی بلکې تردی وروسته په بله کومه غزا او سفر کې دويم ځل په هغه ځای کې اميل ورک سو چې هلته اوبه نه وې او دسهار دلمانځه وخت راغلی وو په همدی وخت کې دا آيت نازل سو

دخندق يا احزاب غزا دهجرت پنځم ۵ کال دکوچنی اختر مياشت !

ددې غزا په وخت کې اختلاف دی ، موسی بن عقبه وايې چې دا غزا دهجرت په څلورم کال د کوچنی اختر په مياشت کې سوی ده ، امام بخاری دا خبره غوره کړې ده ، محمد بن اسحاق وايې چې دهجرت په پنځم کال دکوچني اختر په مياشت کې سوی ده دغزاګانو امامان او دسيرت علماء ټول پر دی باندی يوه خوله دی حافظ ذهبی او حافظ ابن قيم فرمايي چې همدا قول صحيح او دمنلو وړ دی ، ابن سعد او واقدی وايې چې دهجرت په

سيف لودين كتابتون

پنځم کال د میانی په میاشت کې سوی ده (۱)
امام بخاری رحمه الله د موسی بن عقبه تائيد د عبدالله بن عمرؓ په هغه روايت سره کړی دی چې وايي زه د احد په ورځ رسول اللهﷺ ته وړاندی سوم په دغه وخت کې زه د څورلس کالو وم رسول اللهﷺ د احد په غزاکې زما ګډون ونه منی او د خندق په ورځ زه راوړاندی سوم په دغه وخت کې زه د پنځلسو کالو وم رسول اللهﷺ اجازه راکړه (بخاری شريف)
له دې روايت څخه ښکاره معلومیږی چې د خندق غزا د احد تر غزا يو کال وروسته وه که د اخبره ومنله سی نو دا خو منل سوی خبره ده چې د احد غزا په دريم کال د هجرت کی سوی ده نو ځکه مونږ وايو چې د خندق غزا په څلورم هجری کال کی سوی ده.
خو د غزاګانو جمهور امامان پردی اتفاق کړی دی چې د خندق غزا د هجرت په پنځم کال کې سوی ده له دې کبله امام بيهقی وايې: چې کيدای سی چې عبدالله بن عمرؓ به د احد د غزا په وخت کې پوره د څورلس کالو نه وو بلکې د څورلسم کال په پيل کې به وو او د خندق د غزا په وخت کې به پوره د پنځلسو کالو وو په دې اعتبار سره د احد او خندق د غزا تر مينځ دوه کال کيدای سی
او بله دا خبره ده چې د احد له غزا د راتګ په وخت کې ابوسفيان ويلی وو چې په راتلونکی کال کې به زمونږ او ستاسو مقابله په بدر کې وی او دا ژمنه يې وکړه او کله چې دويم کال راغلی دوعدی د پوره کيدو وخت وو نو ابوسفيان وويل سږ کال د جنګ او جګړو نه دی ځکه وچکالی ده او په مکه کې بيوزلی ده او بيرته له جنګه پرشا سو خو يو کال وروسته يې د لس زره کسانو لښکر له ځان سره راوستی او پر مدينه منوره باندی يې د بريد نيت وکی چې ودې غزا ته احزاب او د خندق غزا وايې، له دې څخه معلومه سوه چې د احد او خندق د غزا په مينځ کې دوه کاله وو او دا د سيرة د جمهورو علماء د قول تائيد دی (فتح الباری غزوة الخندق)
ددې غزا باعث او لامل دا سو چې د بنونضير د جلا وطنی يعنی له مدينی منوری څخه د دوئ له شړلو وروسته حيی بن اخطب (۲) مکی ته ولاړی او قريش يې د رسول اللهﷺ د مقابله او جنګ لپاره راپورته کړل او کنانة بن الربيع بنو غطفان ته ولاړی هغوئ يې د رسول اللهﷺ د مقابله لپاره راپورته کړل او هغوئ ته يې دا اميد ورپيدا کی چې د خيبر په باغو کې چې څومره خورماوی کيږی هر کال به د هغه نيمايې برخه تاسو ته درکول کيږی ددې خبرې په اوريدو سره عيينه بن حصن فزاری تيار سو او قريش خو مخکې لا حيی بن اخطب راپاڅولی

(۱) زرقانی جلد ۲/صفحه/۱۵۳
(۲) په يوه روايت کې راغلی دی چې حيي بن اخطب او ابن ابی الحقيق او کنانة بن الربيع او هوذة بن قيس او ابوعمار وائلی له يو پلاوی سره مکی ته ولاړل او قريش يې ودې ته وهڅول چې تاسو په رسول اللهﷺ باندی بريد وکي مونږ ستاسو پوره مرستی ته چمتو يو تر څو هغه له منځه ولاړ سی تردې وروسته غطفان ته ولاړل او هغوئ يې هم ودې ته تيار کړل په همدی هڅو او کوښښ سره د قريشو او غطفان لس زره لښکر د ابوسفيان په مشری د مدينی په لور روان سو (عيون الاثر جلد ۲/ص/۵۵)

سیف لودین کتابتون

وو . ابوسفیان دلس زره کسانو لښکرتیار کي اودمسلمانانو دریښوایستلوپه نیت دمدینې منورې په لوري روان سو (فتح الباري جلد ۷، صفحه ۳۰۱باب غزوة الخندق)

رسول الله ﷺ ته چې کله ددوئ دروانیدو خبرورسیدی نوسمدستي یې له صحابه کرام ؓ سره مشوره وکړه ،سلمان فارسي ؓ دخندق دکیندلو مشوره ورکړه چې خندق باید وکیندل سي اوددوئ مقابله دې وسي ځکه په فراخ میدان کې له دوئ سره مقابله مناسب نه ده ټولو صحابه کرام ؓ دسلمان ؓ رایه تصویب او خوښه کړه (۱)

رسول الله ﷺ په خپله دخندق حدود وټاکل اوخط یې راکش کي ، لس ، لس کسانو ته یې لس لس ګزه ځمکه وویشله (۲)

خندق دومره ژوروکیندل سو چې داوبولوندوالي ښکاره سو (۳)

ابن سعد وایې چې په شپږوورځو کې دخندق کیندل پوره سو ،طبقات ابن سعد جلد ۲ /صفحه ۴۸)

موسی بن عقبه وایې چې په شلوورځوکې صحابه کرام ؓ دخندق له کیندلو خلاص سو سمهودي فرمایې چې صحیح همدا خبره ده چې دخندق کیندل په شپږوورځو کې پوره سو دخندق دکیندلواودمحاصرې ټوله موده شل ورځې وه (دتفصیل لپاره زرقاني جلد ۲/ صفحه ۱۱۰وګورئ) له صحابه کرام ؓ سره رسول الله ﷺ هم په خپله دخندق په کیندلو کې بوخت وو اولومړی یې په خپل لاس مبارک سره ځمکه په کولنګ ووهله اوداکلمات یې په ژبه مبارکه باندې جاري وو ::: بِسْمِ اللهِ وَبِهِ بَدِیْنَا .... وَلَو عَبَدنَا غیره شَقِینَا

دالله ﷻ په نامه سره پیل کوم که چیرې موږ له هغه پرته دبل چاعبادت وکړو نوډیربدنصیب اوبدبخت به یو حَبَّذَا ربًّا وحَبَّذَا دِیْنًا . هغه څومره ښه رب دی اودهغه دین څومره ښه دی (روض الانف جلد ۳ /صفحه ۱۸۹، فتح الباري جلد ۷ /صفحه ۳۰۴)

دژمي موسم وو یخه هوااوبادونه چلیدل دپرلپسې ورځواوشپولوږه اوتنده وه مګر مهاجرین اوانصار ؓ دخندق په کیندلو بوخت وو خاوره به یې راخیژوله اودابه یې ویل :

نحن الذین بایعوا محمدًا ﷺ .... علی الجهاد ما بقینا ابداً

موږ هغه څوک یو چې په خپله موله محمدرسول الله ﷺ سره په لاس بیعت کړی دی اودهغه په واسطه سره موځانونه په الله ﷻ خرڅ کړي دي ترڅوپوې چې زموږ په بدنوکې ساه وي موږ به له کافرانو سره جهاد کوو رسول الله ﷺ به په ځواب کې دافرمایل :

اللهم لاعیش الا عیش الآخره................. فاغفر للانصار والمهاجره

اي الله ﷻ ژوندخو په حقیقت کې دآخرت ژوندی دی نو ته انصارو اومهاجرینو ته ښښنه وکړې ،

(۱) طبقات ابن سعد جلد /۲ /ص /۴۷)
(۲) فتح الباري جلد /۷ /ص /۳۰۵)
(۳) تاریخ طبری جلد ۳ /ص /۴۵)

سیف لودین کتابتون

او کله به یې داسې فرمایل :

اللهم انه لاخير الا خير الاخرة .... فبارک فی الانصار و المهاجره

اې الله ﷻ بیشکه رښتینی خیر او نیکی خو د آخرت نیکي ده نو ته انصارو او مهاجرو ﷺ ته برکت ورکړې .

له براء بن عازب ﷺ څخه روایت دی چې د خندق په ورځ رسول الله ﷺ په خپله لمن مبارکه کښې خاورې راوړلې او خیټه مبارکه یې په خاورو خړه سوه او دا به یې ویل :

وَاللهِ لَوْلاَ اللهُ مَا اهْتَدَيْنَا .... وَلاَ تَصَدَّقْنَا وَ لاَ صَلَّيْنَا

قسم په الله ﷻ که دالله ﷻ توفیق نه وای نو موږ به هیڅرې هم هدایت نه وای پیدا کړی او نه به موږ خیراتونه ورکولای او نه به لمونځونه کولای .

فَأَنْزِلَنَّ سَكِينَةً عَلَيْنَا .... وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ اَنْ لاَ قَيْنَا

اې الله ﷻ پر موږ باندې آرام او ډاډ نازل کړې او د جنګ په وخت کې زموږ پښې ټینګې کړې

ان الاُولَى قَدْ بَغَوْ عَلَيْنَا .... إِذَا اَرَادُوا فِتْنَةً اَبَيْنَا

دې خلکو لوړې پر موږ تیرې وکړ دوئ چې کله موږ په کومه فتنه کې اچول غواړې موږ هغه هیڅ کله نه قبلولو .. اَبَيْنَا اَبَيْنَا به په لوړ آواز ډیر واري ویل .

جابر ﷺ فرمایې چې د خندق په کیندلو کې یو ټینګ او سخت کاڼې راغلی موږ رسو ل الله ﷺ ته عرض وکی چې داخو نه ماتیږې او ډیر غټ هم دی ؟ رسو ل الله ﷺ وفرمایل ودریږې زه په خپله ورکښته کیږم او دده مبارک ﷺ پر نس دلوږې آثار له ورایه معلومیدل ځکه ده په نس مبارک پورې کاڼې تړلي وو او موږ هم له درې ورځو څخه هیڅ شئ نه وو خوړلی رسول الله ﷺ کولنګ ورواخیستی او خندق ته ورکښته سو او کاڼې یې په کولنګ ووهی کاڼې هم سمدستي زره زره سو ، دا حدیث په صحیح بخاری کې راغلی دی په مسند احمد او نسائی کې نور زیادت هم سوی دی وایې چې کله رسول الله ﷺ اول ځل بسم الله وویله او په کولنګ یې هغه کاڼې ووهی نو د کاڼې دریمه برخه ماته سوه رسو ل الله ﷺ وفرمایل الله اکبر، ماته دشام دپاچهی کلیانی راکول سوی قسم په الله ﷻ زه اوس دشام ماڼۍ په خپلو سترګو وینم بیا یې دویم ځل بیا هغه ډبره په کولنګ ووهله دډبرې دویمه برخه ماته سوه ، رسو ل الله ﷺ وفرمایل ، الله اکبر ، ماته دفارس هیواد دخزانو کلیانی راکول سوی قسم په الله ﷻ دمدین سپینه ماڼۍ اوس زه په خپلو سترګو وینم ، دریم ځل یې بیا هغه ډبره په کولنګ ووهله دهغې دریمه برخه هم ماته سوه رسول الله ﷺ وفرمایل الله اکبر، دیمن کلیانی ماته راکول سوی قسم په الله ﷻ دصنعاء دروازې زه په خپلو سترګو له دې ځایه وینم ،

سیف لودین کتابتون

حافظ عسقلاني ليکي چې ددې حديث سند حسن دی او په يو روايت کې راغلی دی چې په لومړی ځل کولنګ وهلو سره يوه بريښنا وسوه چې په هغه سره دشام ماڼۍ روښانه سوه نبي کريم ﷺ الله اکبر وويل او صحابه کرام ﷺ هم تکبير وواييو او داارشادې وفرمايل چې جبرئيل ﷺ ماته خبرراکړ چې ستاامت به دا ښارونه فتح کوی (فتح الباری ج/٧/ص/٣٠٤)

ف :دخندق کيندلو طريقه په عربو کې نه وه بلکې دفارس دخلکو طريقه وه دفارس په باچهانو کې ترټولو مخکې منوشهربن ايرج بن افريدون دخندق په کيندلو سره دجنګ طريقه رواج کړه ،رسول الله ﷺ دسلمان فارسي ﷺ په مشوره داطريقه خوښه کړه له دې څخه دامعلوميږی چې په جهاد کې دکافرانوله طريقو دجنګ اختيارول صحی دی او دارنګه دکافرانو په جوړوسويو شيانو او سامان الاتو دجنګ کول هم صحيح دی لکه چې رسول الله ﷺ دطائف په غزاکی منجنيق استعمال کي او عمرفاروق ﷺ دتُستر په محاصره کې ابوموسی اشعری ﷺ ته دمنجنيق امرو کي او عمروبن العاص ﷺ چې کله اسکندريه فتح کوله نو منجنيق يې وکاروی دغه رنګ دزهرجنوغشو (١)او تورو کارول هم صحی دی مګر دونو او درختو سوځول يو اځی هغه وخت روادی چې کله پردښمنانو باندی دغلبی بل هيڅ صورت نه وی پاته پرته له سخت اړتيا او مجبوري داور اچول نه دی روا ، ددې مسئلی دتفصيل لپاره ، شرح سيرالکبير دريم ټوک باب قطع الماء عن اهل الحرب وتحريق حصونهم ونصب المجانين عليها ، وګوری

وقال الله تبارک وتعالی:(واعدوا لهم مااستطعتم من قوة ومن رباط الخيل ترهبون به عدوالله وعدوکم)ژباړه : الله تبارک وتعالی ويلی دی چې تياری وکړی دکافرانو دمقابلی لپاره په هرقوت اوزورسره چې تاسو تيارولای سی اوآسونه هم وپالۍ ددې لپاره چې تاسو په دې قوت اودبدبی سره دالله ﷻ دښمنان اودخپل دين دښمنان وويروی ..

له دې معلومه سوه چې دهغو شيانو زده کول لازمی دی چې په هغه سره دالله ﷻ دښمنان ويرول کيږی اودالله ﷻ ددين عزت اودبدبه پاته سی

ضروری خبره : کتاب الله اوسنت رسول ﷺ دکسب اوصنعت اودزدکړی او پرمختګ منع نه کوی بلکې هرهغه کاراوکسب چې په هغه سره دهيواد پرمختګ وی منع نه کوی بلکې فرض کفايې دی لکه چې دټولو علماء کرامو پردی اجماع ده البته شريعت اسلامی داروپااو امريکادبی حيايې اوبی شرمی اوشهوانی اونفسانی غوښتنو اخلاقو اوپرمختګ ډير سخت مخالف دی څکه په شهوانی اونفسانی کاروکې آزادی ورکول ، دمسلمانانو اخلاق ، ټولنه ، تباه اوبربادکوی اودادهيوداګبنته والی سبب کيږی لکه نن چې په نړۍ کې وديته پرمختګ ويل کيږی دغرب مزدوران بداخلاقی ، زنا ، اودښځو آزادی په تمدن اوتهذيب اوپرمختګ سره تعبيروی .

---

(١) ...

سیف لودین کتابتون

مسلمانان دخندق له کيندلوو زګارسو او د قريشو لس زره کسيز لښکر مدينې منورې ته راورسيدی او د احد و خواته يې پړاو وواچوی رسول الله ﷺ د دري زره مسلمانانو له لښکر سره د سلع غره و خواته پړاو وواچوی خندق د دواړو لښکرو په مينځ کې وو ښځې او ماشومان يې په يوه کلاکې خوندی کړل، بنو قريظه يهوديان په دغه وخت کې بې طرفه وو مګر حيی بن اخطب د بنو نضير مشر راغلی بنو قريظه ته يې بلنه ورکړه چې د مسلمانانو په خلاف راپورته سی اوس موو خت دی ډير کوښښ يې وکي وروسته په خپله کعب بن اسد ته چې د بنو قريظه مشر وو هغه ته راغلی بنو قريظه له رسول الله ﷺ تړون کړی وو کعب چې کله حيی بن اخطب وليدی نو د کلا دروازه يې بنده کړه حيی بن اخطب ورته وويل دروازه خلاصه کړه . کعب په ځواب کې ورته وويل (ويحک ياحيی انک امرء مشؤم وانی قد عاهدت محمدا فلستُ بناقض مابينی و بينه فانی لم ارامنه الاصدقًا ووفاءً) ژباړه : افسوس دی اې حيی رښتيا هم ته ډير سپيره سړی يې ماله محمد صلی الله عليه وسلم سره ژمنه کړی ده زه او س هغه وعده نه سم ماتولای ځکه ماله محمد صلی الله عليه وسلم څخه پرته له رښتيا او د ژمنی له پوره والی بل هيڅ نه دی ليدلی ،

حيی وويل چې ما ستاسو لپاره د همیشه لپاره عزت راوړی دی د قريش او غطفان فوځونه مي دلته راوستلی دی او پراته دی موږ ټولو د الوظ کړی دی چې ترڅو پوری د محمد ﷺ او د هغه د ملګرو ريښې ونه باسو تر هغه وخته پوری له دې ځايه نه ځو ،

کعب وويل قسم په الله ﷻ تا هميشه موږ ته ذلت او رسوايې راوړی ده زه له محمد صلی الله عليه وسلم سره هيڅکله خپله ژمنه نه ماتوم ماله هغه څخه پرته له رښتيا او د ژمنی له پوره والی بل څه نه دی ليدلی ،

حيی بن اخطب ډير ټينګار پرو کي تردې پوری چې هغه يې د لوظ وماتولو ته تيار کي رسول الله ﷺ چې کله په دې خبر سو نو سعد بن معاذ ﷺ او سعد بن عباده ﷺ او عبدالله بن رواحه ﷺ يې د پلټنې او حال معلومولو لپاره ور وليږل او دا حکم يې ورته کي چې که دا خبره صحی وی نو کله چې راسی خبر پټ وساتی او په پټو الفاظو کې ماته ووايا ست چې نور خلک پوه نه سی او که دروغ وو نو بيا يې په ښکاره بيان کي

دوئ چې کله کعب بن اسد ته ورغلل او ده ته يې د لوظ او ژمنی يادونه وکړه کعب وويل څنګه لوظ دی او محمد ﷺ څوک دی زما له هغه سره هيڅ ژمنه او پريکړه نشته ،

کله چې دوئ راغلل نو رسول الله ﷺ ته يې وويل (عضل وقاره) يعنی لکه څنګه چې عضل او قاره له اصحاب رجيع يعنی خبيب ﷺ سره غداری کړی وه دغه رنګه دوئ هم لوظ مات

سیف لودین کتابتون

رسول الله ﷺ ددوئ په لوظ ماتولو ډیر خفه سو کافرانو له هرلوری مسلمانان محاصره کړل له دباندی قریشو مخامخ پراواچولی وو او په مدینه کې دننه بنی قریظه هم ددوئ ملګری سو لنډه داچې دمسلمانانو لپاره ډیر دخفګان وخت وو او ډوورځی پرلپسی لوږه وه الله جل وعلی شانه په سورة احزاب کې دهغه جنګ حال موږته داسی بیان کړی دی : اِذْ جَآءُوْكُمْ مِنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ اَسْفَلَ مِنْكُمْ وَاِذْ زَاغَتِ الْاَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَزُلْزِلُوْا زِلْزَالًا شَدِيْدًا (سورة احزاب آیت ١٠)

ژباړه : یادکړه هغه وخت کله چې دښمنان ستاسو سرته راورسیدل له لوړی خوا او له لاندی خواهم وو او سترګی کږی سوی اوزړونه مری ته راورسیدل اوتاسو په الله ﷻ باندی رنګارنګ ګمانونه وکړل په هغه ځای کې په مومنانو باندی ازمویښت وسو او ښه وچوټل سو په همدی وخت کې دازمویښت په تخته باندی ټول خلک ودریدل ازمویښت ښه او بدسره بیل کړل ځکه منافقینو بهانی پیل کړی اوغوښتنه یې وکړه چې یارسو ل الله ﷺ زموږ کورونه دکوچنیو دیوالو په وجه ښکاریږی اوخوندی نه دی دماشومانو اوښځوساتنه ضروری ده موږته له دې کبله اجازه راکړه (يَقُوْلُوْنَ اِنَّ بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ اِنْ يُّرِيْدُوْنَ اِلَّا فِرَارًا سورة الاحزاق آیت ١٣) ژباړه : منافقینو وویل چې په تحقیق سره زموږ کورونه خالی دی اوحال داچې هغه خالی نه دی دوئ یوازی غواړی وتښتی ځکه دابهانی کوی .

او دمسلمانانو زړونه چې ددوئ زړونه له اخلاص اویقین څخه ډک وو ددوئ داحالت وو چې الله تعالی یادکړی دی : (وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ..سورة الاحزاب آیت ٢٢) ژباړه :مومنانو چې کله دکافرانو فوځونه ولیدل نو دایې وویل داهغه دی چې الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ له موږ سره ژمنه کړی ده او الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ رښتیاویلی دی او په دی سره دهغوئ په یقین اوعبادت کې نورهم زیادت راغی .

لنډه داچې یهودو اومنافقینو ټولو په دې جنګ کې بی لوظی وکړه اومسلمانان د بهرنیو او داخلی دښمنانو په محاصره کې بندراغلو دمحاصری دسختوالی له کبله رسول الله ﷺ دافکروکي چې مسلمانان دانسانی تقاضاله کبله ونه بیریږی ځکه یې داارداه وکړه چې عینیه بن حصن اوحارث بن عوف چې دغطفان قبیلی مشران وو دمدینی دخورماوو په دریمه برخه ورکولوسره له هغوئ سره سوله وکړی ددې لپاره چې داخلک د ابوسفیان له مرستی پرشاسی اومسلمانانو ته ددې محاصری ماتول اسانه سی رسول الله ﷺ سعدبن معاذ ؓ اوسعدبن عباده ؓ ته خپله رایه بیان کړه چې ستاسو څنګه خوښه ده ؟

دوئ ورته وویل یارسو ل الله ﷺ آیا الله تعالی تاته داحکم کړی دی که داسی وی نو دهغه

سیف لودین کتابتون

دانيت کړی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل دالله ﷻ هيڅ حکم نه دی يوائې ستاسو لپاره مې داسې اراده کړې ده ځکه ټولو عربو په اتفاق سره پرتاسو باندې له يوې لندې دغشو ويشتل شروع کړي دي زه غواړم له دې لارې ددوئ اتفاق اويو والی مات کړم سعدبن معاذ ﷺ ووېل يارسول الله ﷺ کله چې موږ اودوئ ټول کافران اومشرکان وو دبتانو عبادت موکوي الله ﷻ مونه پيژندی په هغه وخت کې ددوئ داتوان نه وو چې له موږ څخه يوه خورما هم واخلي مگر داچې موږ دميلمستيا په ډول يا په خرڅولو سره ورکړې وی او اوس خو موږ ته الله ﷻ سمه لارراوښودله په نه ختميدونکی اوبې مثاله نعمت سره يې ونازولو اوپه اسلام يې موږ عزتمند کړو نوموږ به خپل مال ودوئ ته څنگه ورکوو داهيڅ وخت نه سی کيدای قسم په الله ﷻ هغوئ ته زموږ دمال ورکولو هيڅ اړتيانسته قسم په الله ﷻ که موږ دوئ ته پرته له توری بل هيڅ ورکړو دهغوئ چې څه په وس وی ودی کړي.

اوپه دې اړه چې دسولې کومه معاهده ليکل سوې وه سعد بن معاذ ﷺ دنبی کريم ﷺ له لاس مبارک واخيسته اودهغه ټول توری يې ونړول (ابن هشام جلد ۲ / صفحه / ۱۴۱)

دوې اونۍ دمحاصرې په حالت کې تيرې سوې مگر دلاس په لاس جگړې وخت رانه غلی يوائې له دواړو لوريو غشی ويشتل کيدل آخر دقريشو څو سپاره لکه عمروبن عبدود ، عکرمة بن ابی جهل ، هبيرة بن ابی وهب ، ضراربن خطاب ، نوفل بن عبدالله ، دمسلمانانو دمبارزی لپاره راووتل کله چې خندق ته راورسيدل نودايې ووېل قسم په الله ﷻ دامکر اوچل خو مخکې په عربو کې نه وو يوځای دخندق سورپلنوالی کم وو اودوئ له هغې خوا دمسلمانانو خواته راورسيدل اودمسلمانانو دمقابلې لپاره يې آواز وکي ، عمروبن عبدود (۱) چې دبدر په جنگ کې ژوبل سوی وو له سره ترپښوپوری په اوسپينه کې پټ وو ده ووېل (هل من مبارز) داناره يې وکړه ، دالله ﷻ زمری حضرت علی کرم الله وجهه دده دمبارزی لپاره ووتی علی ﷺ ورته ووېل اې عمرو تازه دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ خواته رابولم اوداسلام بلنه درکوم ، عمرو ووېل ماته دد ې اړتيانسته ، علی ﷺ وفرمايل ښه زه تاته دجنگ اومقابلې بلنه درکوم عمرو ووېل ته وړوکی يې بل مشر زمادمقابلې لپاره راوليږه ، زه ستاوژل نه خوښوم ، علی ﷺ په ځواب کې ورته ووېل هوخوزه بيا ستاوژل خوښوم ، عمرو چې کله دا خبره واوريدله ډير په غصه سو اوله آس څخه را کښته سو سمدستې يې پرعلی ﷺ دتوری وار وکي علی ﷺ دتوری وار په ډال وگرزوی مگر تندی يې يو څه ژوبل سو وروسته علی ﷺ پرده باندی واروکي چې په دې وارسره دعمربن عبدودژوندپای ته ورسيدی اودتل لپاره ذليل اوسپک سو . علی ﷺ دالله اکبر نعره وکړه چې ددې په اوريدو سره مسلمانان په دې پوه سو چې الله ﷻ بری ورکي

(۱) ...

سیف لودین کتابتون

نوفل بن عبدالله درسول الله ﷺ دشهادت په نیت رامخکې سو پرآس سپوروو دخندق څخه راپوری وتل یې غوښتل خوالله ﷻ پرمخې پرڅت په خندق کې راوپرزوی اومغزی یې مات سو اومړسو ، مړی یې په خندق کې پاته سو مشرکینورسول الله ﷺ ته لس زره درهمه راولیږل چې دده لاش موږته راوسپاره رسول الله ﷺ وفرمایل هغه هم خبیث اوناپاکه وو اودهغه دیت هم خبیث اوناپاکه دی دالله ﷻ لعنت دی وی په هغه هم اودهغه په دیت هم موږته نه دلس زره درهمو اړتیاسته اونه دده دنجس بدن اوپرته له څه بدلی یې دهغه بدن وروسپاری (۱)

دسعدبن معاذ ﷺ دشاپررګ باندی غشی ولګیدی اوژوبل سوده په همدې وخت کې دا دعاوغوښته ،اې الله ﷻ که تادقریشوجنګ پری ایښی وی نوماته ترهغه ژوندراکړی ځکه ماته تردی بل محبوب شئ نسته چی له هغه قوم سره جهادوکړم چی ستارسول ﷺ ته یې تکلیفونه رسولی دی اوهغه یې دروغجن ګڼلی دی اوهغه یې دامن له حرم څخه ایستلی دی اواې الله ﷻ که تازموږاوددوئ په مینځ کې جنګ پای ته رسولی وی نوزمادغه ټپ دشهادت سبب وګرزوی اوترهغه وخت پوری مامه وژنی ترڅوزه دبنوقریظه وذلت اورسوایی په خپلوسترګووینم اوسترګی مې یخی سی (۲)

دځګړی داورځ ډیره سخته وه ټوله ورځ په غشواوکانوویشتلوتیره سوه اوپه دې ورځ له رسول الله ﷺ څخه څلورلمنځونه قضاسو،،

رسول الله ﷺ کوچنیان اوښځې په یوه کلاکې ځای پرځای کړی وی دیهودیانوآبادی هلته نژدی وه درسول الله ﷺ بی بی صفیه ﷺ هم هلته په دې کلاکې وه حسان ﷺ ددې کلادساتنی لپاره امرسوی وو صُفیه ﷺ یویهودی ولیدی چی دکلاپرشاوخواراګرزی دا اندیښمنه سوه چی هسی نه دیهودیانو جاسوس وی ځکه دی وحسان ﷺ ته وویل چی دایهودی مړکه هسې نه چی دښمنانوته زموږخبرورکړی ، حسان ﷺ وویل ته په دی خبره یې چی زه ددی کارورنه یم صفیه ﷺ ولاړه سوه اودخیمی یوه ستنه یې راواخیسته اوهغه یهودی یې پرسرداسی په زور ووهی چی دهغه سردوه ځایه سو صفیه ﷺ وحسان ﷺ ته وویل چی دی نارینه اوزه ښځه یم ځکه زه ودته لاس نه سم ور وړلای ته له ده څخه سلا خلاصه کړه ، حسان ﷺ وویل ماته دهغه دسلااوسامان هیڅ اړتیا نسته (ابن هشام)

دمحاصری په وخت کې نعیم بن مسعوداشجعی دغطفان یومشردرسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چی یارسول الله ﷺ ماپرتاایمان راوړی دی اوزماقوم زماپه اسلام ناخبره دی که اجازه وی زه به څه چل اوتدبیروکړم چی په دې سره به محاصره

(۱) زرقانی جلد /۲/صفحه/۱۱۴)
(۲) ابن هشام جلد ۲/ص/۱۴۳)

سيف لودين کتابتون

ماته سي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هواجازه ده ته يو تجربه کار سړی يې که کوم داسی چل کيدای سی نووي کړه (فان الحرب خدعة) ځکه جنګ په اصل کې د چل او فريب نوم دی.
نعيم ﷺ هم همداسی فريب وچلوی چی د قريشو او بنی قريظه په مينځ کې باور له منځه ولاړی بنو قريظه د قريشو له مرستی لاس واخيستی (تفصيلی قصه په فتح الباری جلد ۷ /صفحه /۳۰۹/، او زرقانی جلد /۲/ صفحه /۱۱۷، او تاريخ طبری جلد /۳/ صفحه /۵۰ کې ذکر سوی ده)
د عمرو بن عبدود او نوفل له وژل کيدو وروسته د قريشو پاته سپرو ماتی وخوړه او بيرته ولاړل، په مسند احمد کې له ابو سعيد خدری ﷺ څخه روايت دی چی د محاصری د سختی په وخت کې صحابه کرام ﷺ له رسول الله ﷺ څخه د دعا غوښتنه وکړه رسول الله ﷺ وفرمايل داد دعا غواړی (اللهم استر عوراتنا وآمن روعاتنا) ژباړه : اې الله ﷻ زموږ عيبونه پټ کړی او زموږ ويره ليری کړی
او په صحيح بخاری کې راغلی دی چی داد دعايې و کړه (۱) (اللهم منزل الكتاب ومجری السحاب وهازم الاحزاب اهزمهم وانصرنا عليهم)(صحيح البخاری كتاب الجهاد باب لاتمنوا القاء العدو)
الله ﷻ د رسول الله ﷺ دعا قبوله کړه او په قريش او غطفان باندی داسی سخت باد مسلط سو چی په هغه باد د دوئ ټولی خيمی ونړيدی ، پړی او تناوونه يې وشليدل ديګونه يې واوښتل ګرځ او دوړی راوالوتی او سترګې يې له خاورو ډکی سوی چی په دې سره د کافرانو ټول لښکر نا اميده او ناهيلی سو په دې اړه الله تعالی دا آيت نازل کي (يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَمْ تَرَوْهَا وَكَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا (سورة الاحزاب آيت ۹)
ژباړه : اې مومنانو ياد کړی د الله ﷻ هغه نعمت چی پر تاسو په هغه وخت کې وسو کله چی د کافرانو ډيری لښکری ستاسو سر وته راورسيدی نو په دغه وخت کې موږ ستاسو په دښمنانو باندی باد راوالوزوی او ستاسو د مرستی لپاره مو له اسمان داسی لښکر راوليږی چی تاسو نه ليدی يعنی ملائکی او الله ﷻ ستاسو په عملو ښه خبر دی ..
له (جُنُودًا لَمْ تَرَوْهَا) څخه مراد فرشتی دی چی هغوئ د کافرانو په زړو کې ويره واچوله او د مسلمانانو زړونه يې مضبوط او قوی کړل د کافرانو لس زره لښکر له مدينی منوری سرټيټي او مغلوب وتښتيدل لکه چی الله تعالی فرمايي :
وَرَدَّ اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا خَيْرًا وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ الْقِتَالَ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا (سورة الاحزاب آيت ۲۵)

---

(۱) د مسند احمد او ابن سعد په روايت کې راغلی دی چی نبی کريم ﷺ په مسجد احزاب کې لاسونه پورته کړل او په ولاړه يې

سیف لودین کتابتون

ژباړه : او الله تعالی کافران سره له خپله غصی وشړل او هیڅ خیریې په برخه نه سو او الله تعالی د مومنانو له لوری په جنګ کې کفایت وکی او الله تعالی ډیر قوی او غالب ذات دی

دحذیفه بن الیمان ؓ څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ په هغه شپه ماته امروکي چی ولاړسه او دقریشو دلښکر خبر راوړه ما وویل زه بندی نه سم نبی کریم ﷺ وفرمایل (انک لن تُوسَرَ) ربنتیا به هم ته هیڅکله نه نیول کیږی ، وروسته یې زما لپاره دعا وکړه : اللهم احفظه من بين يديه ومن خلفه وعن يمينه وعن شماله ومن فوقه ومن تحته) ژباړه : اي الله ﷻ دده ساتنه وکړی دمخ له لوری او دشاله لوری له راسته لوری او کیڼ لوری او کښته پورته ساتنه وکړی .

درسول الله ﷺ په دې دعا سره زما ټول ویره او رعب لیری سو او ډیر په خوشالۍ روان سوم کله چی زه روانیدم نو رسول الله ﷺ راته وویل اې حذیفه ؓ څه نوی خبره مه کوه ، زه چی کله دقریشو لښکر ته ورسیدم نو هوا او باد دومره تیز وو چی هیڅ شئ نه دریدی او دومره تیاره وه چی هیڅ شئ هم نه ښکاره کیدی په دې وخت کې ماله ابوسفیان څخه واوریدل چی خپل لښکر ته یې ویل ، اې قریشو داپاته کیدو ځای نه دی زموږ څاروی تباه سو او بنوقریظه وو زموږ ملګرتیا پریښوده باد موږ وارخطا او پریشانه کړو تګ او راتګ او ګرزیدل او کښینستل ګران سو ښه به داوی چی سمدستی مکی ته ولاړسو کله چی یې دا خبره خلاصه کړه ابوسفیان پراوښ سپور سو او روان سو دمکی پرلوری ،

حذیفه ؓ وایې په دغه وخت کې زما په زړه کې دا راتیر سول چی ابوسفیان په غشی وویلم مګر دنبی کریم ﷺ هغه خبره رایاده سوه چی اې حذیفه ؓ هیڅ نوی خبره ونه کړی ځکه دغسی راغلم (زرقانی جلد ۲ / صفحه / ۱۱۸)

کله چی دقریشو لښکر ولاړی نو رسول الله ﷺ وفرمایل (الآن نغزوهم ولایغزوننا نحن نسیر الیهم) بخاری شریف) ژباړه : اوس به موږ پر دوئ برید ونه او حملی کوو او دوئ به له دی وروسته پر موږ باندی برید نه سی کولای موږ به په دوئ پسی دبرید لپاره ورځو یعنی د کفر ملا ماته سوه او کمزوری سو اوس دومره توان په دوئ کې پاته نه سو چی هغه د اسلام په مقابله کې سر راپورته کی او اسلام یوائې دځان دفاع وکړی بلکې له دې وروسته به اسلام دومره قوی سی چی هغه به دکفر په مقابله کې لومړنی اقدام کوی او ناڅاپی برید ونه به کوی ،

تنبیه :... کوم خلک چی په اسلام کې دتعرضی جهاد څخه منکر دی هغه دې دبخاری شریف دا الفاظ ښه په غور سره ولولی ،

کله چی سهار سو نو رسول الله ﷺ مدینی منوری ته روان سو او په ژبه مبارکه یې دا کلمات جاری وو (لَاإِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ صَدَقَ اللهُ ...

سیف لودین کتابتون

ابن سعد وايي چې محاصره پنځلس ۱۵ ورځې وه، واقدي وايي دا قول تر ټولو راجح دی.
سعيدبن مسيب فرمايي شليرويشت ورځې وه په دې غزاکې درې مشرکين ووژل سو
يونوفل بن عبدالله، عمروبن عبدود، منية بن عبيد،
او شپږ تنه صحابه کرام شهيدان سو .۱ـ سعدبن معاذ رضی الله تعالی عنه .۲ـ انس بن اويس رضی الله عنه .۳ـ عبدالله بن سهل رضی الله عنه ـ۴ـ طفيل بن نعمان رضی الله عنه ـ۵ـ ثعلبة بن ضمه رضی الله عنه ـ۶ـ کعب بن زيد رضی الله عنه .... حافظ دمياطی دوه نور نومونه هم ياد کړی دی .۷ـ قيس بن زيد رضی الله عنه ـ۸ـ عبدالله بن ابی خالد رضی الله عنه

دبنی قريظه غزا دهجرت پنځم کال دمیانی(۱) میاشت دچهارشنبی ورځ

رسول الله ﷺ دخندق له غزا دسهار له لمانځه وروسته مدينه منوری ته راغلی رسول الله ﷺ او صحابه کرام رضی الله عنهم سلاح وی خلاصی کړی کله چې دماپښين دلمانځه وخت رانژدی سو نو جبرئيل عليه السلام په قچره سپور راغلی او پګړۍ يې هم تړلی وه (۲) نبی کريم ﷺ ته يې وويل: آيا تاو سله خلاصه کړی ده، نبی کريم ﷺ وويل هو جبرئيل عليه السلام ورته وويل ملائکه وو خو تراوسه لا سلاح نده ايښې او نه تر اوسه پوری تللی دی الله تعالی تا ته دبنو قريظه خواته دتلو امر کړی دی اوزه په خپله دبنوقريظه خواته روان يم اوهلته ورځم (۳) انس رضی الله عنه فرمايي چې دبنوقريظه اورسول الله ﷺ په مينځ کې مخکې دجنګ معاهده سوی وه خو کله چې قريشو لس زره لښکر راوستی اوپرمدينه باندی دبريدلپاره لښکر راوستی نو بنوقريظه وو له رسول الله ﷺ سره خپله لوظنامه ماته کړه اوله قريشو سره ملګری سو الله ﷻ چې کله احزاب و ته ماتی ورکړه بنوقريظه سمدستی په کلاوونو تل جبرئيل عليه السلام دملائکه وو له يوی ټولۍ سره درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو اوغوښتنه يې وکړه چې يارسول الله ﷺ اوس سمدستی دبنوقريظه خواته روان سه، رسول الله ﷺ وفرمايل زما ملګری رضی الله عنهم اوس ستړی دی جبرئيل عليه السلام ورته وويل ته ددوئ فکرمه کوه روان سه زه اوس ځم هغوئ ښوروم دا يې وويل او جبرئيل عليه السلام دملائکه وو له يوی ټولۍ سره دبنوقريظه خواته روان سو دبنوغنم کوڅه ټوله له ګرځ اودوړو څخه ډکه سوه،
انس رضی الله عنه فرمايي چې هغه ګرځ اودوړی چې دجبرئيل عليه السلام دسپرلۍ څخه دبنوغنم په کوڅه کې پورته کيدی هغه تراوسه زما په سترګو کې دی داسی فکرکوم لکه اوس چې زه هغه وينم او دوړی پورته کيږی (بخاری شريف)

(۱) زرقانی جلد /۲/ص /۱۲۶) ——— (۲) دابن اسحاق په روايت کې راغلی دی چې جبرئيل عليه السلام موضع جنائز يعنی هغه ځای چې نبی کريم ﷺ دجنازی دلمانځه لپاره له مسجد بيل جوړ کړی وو هغه ته نژدی راغلی اوودريدی، طبقات ابن سعد جلد ۲/ص/۵۳، له دې معلومه سوه چې دجنازی دلمانځه لپاره بيل ځای جوړ په کار دی په مسجد کې دننه دجنازی لمونځ کول نه دی په کار کنه نو دبيل ځای جوړولو څه اړتيا وه ——— (۳) البدايه والنهايه جلد ۴/ص/۱۱۶ ابن هشام جلد ۲/ص/۱۴۵)

سیف لودین کتابتون

جبرئیل علیه السلام خوروان سو اونبی کریم ﷺ امروکي چې هیڅ سړی دې پرته له بنوقریظه بل ځای لمونځ نه کوی په لاره کې چې کله مازیګرسو نواختلاف پیښ سو یوشمیرصحابه کرام رضی الله عنهم وویل چې کله بنوقریظه ته ورسیدو لمونځ به کوو یوشمیرنوروبیاوویل لمونځ به همدااوس کوو ځکه درسول الله ﷺ دامقصدنه وو چې لمونځ دې قضاکړل سی بلکې مقصدیې تلوار اوتعجیل وو ، رسول الله ﷺ ته چې کله ددې یادونه وسوه نوهغه په یوه لوری هم ملامتی ونه ویله (بخاری شریف) ځکه دټولونیت دخیراودرسول الله ﷺ دامرمنلووو.

ف :. حافظ ابن قیم رحمه الله فرمایې چاچې په ظاهردحدیث عمل وکړ هغه ته ثواب ورسیدی اوچاچې اجتهاداواستنباط وکی هغه ته هم ثواب ورسیدی مګرکوموخلکوچې وظاهره الفاظوته وکتل اوبنوقریظه ته له رسیدومخکې یې لمونځ نه وکي تردی چې دمازیګروخت ووتی نوهغوئ ته یواځی یوفضیلت ورپه برخه سو یعنی دحکم نبوی عملی کیدل اوکوموخلکوچې اجتهاداواستنباط وکی اوپه دې پوه سو چې دنبی کریم ﷺ مقصددانه وو چې دمازیګرلمونځ دې بیخی پریښودل سی بلکې مقصودیې ژرررسیدل وو بنوقریظه ته ځکه یې دمازیګرلمونځ په لاره کې اداکي ودې خلکوته دوه فضیلوتونه دی یوفضیلت دحکم نبوی عملی کیدل اودویم فضیلت دمازیګردلمانځه اداکیدل چې هغه په حقیقت کې بی شمیره فضیلتونه لری اودمازیګردلمانځه حکم په قرآن کې راغلی دی (حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلَوٰةِ الْوُسْطَىٰ) اوپه حدیث کې راغلی دی چې چادمازیګرلمونځ قضاکی دهغه اعمال بربادسو اوداسی نورپه ظاهردالفاظوعمل کونکوباندی که څه هم ناراضی ښکاره نه کړه ځکه ددوئ هم نیت دخیروو مګر کوموخلکوچې اجتهاداواستنباط وکی دهغوئ مرتبې ته نه سی رسیدلای (فتح الباری جلد ۷ /صفحه /۳۱۶)

وروسته رسو ل الله ﷺ علی رضی الله عنه ته بیرغ ورکړې اوروان سو کله چې علی رضی الله عنه بنوقریظه ته ورسیدی نویهودوخبیثانو رسول الله ته په ډاکه ښکنځل کول (چې دایونه ښنونکی جرم دی)

له ده وروسته رسول الله ﷺ په خپلهٔ روان سو اوکله چې بنوقریظه ته ورسیدی نوبنوقریظه یې پنځه ویشت ورځې محاصره کړل دمحاصری په وخت کې دبنوقریظه مشر کعب بن اسددوئ راغونډکړل اوورته وې ویل چې زه تاسوته درې خبری وړاندی کوم په دې دروخبروکې چې کومه غواړی هغه خوښه کړی ددې لپاره چې له دې غم څخه خلاصون پیداکي ، لومړی داچې موږپه دې سړی (یعنی محمدرسول الله ﷺ) باندی ایمان راوړو اودهغه پیروئ وکړو (فوالله لقدتبین لکم انه لنبی مرسل وانه للذی تجدونه فی کتابکم فتأمنون علی دمائکم واموالکم وابنائکم ونسائکم) :

ژباړه : ځکه قسم په الله ﷻ تاسوته داخبره ښه روښانه ده چې دابیشکه دالله تعالی نبي اورسول ﷺ دی اورښتیاهم داهغه نبي دی چې تاسوپه تورات کې دده نوم لیکلی لیدلی دی که ایمان راوړی نوستاسو ځانونه اومالونه کوچنیان اوښځې ټول به خوندي پاته سي ؟ بنوقریظه وودده په ځواب کې وویل چې داخومونږته دمنلووړخبره نده ځکه مونږخپل دین نه پریږدو ، کعب ورته وویل ښه که دانه منئ نودویمه خبرمی داده چې خپل ماشومان اوښځې ووژنی چې کله له دوئ بیغمه سی نوتوری راواخلی اوپه پوره میړانه اوټینګ عزم سره وجنګیږی اودمحمدصلی الله علیه وسلم ښه کلکه مقابله وکړی که ناکامه سواست نودکوچنیانواوښځوغم به نه وی درسره اوکه کامیابه سونوښځې ډیری دی اوله هغوڅخه هم ماشومان پیداکیږی ؟ بنوقریظه وووویل پرته له څه وجې دښځواوکوچنیان له وژلووروسته دژوندڅه خوندپاته کیږی ، کعب وویل ښه که موداهم نه وی خوښه نودریمه خبره داده چې نن شپه دهفتی ده کیدای سی چې محمد ﷺ اودهغه ملګری نن ناخبره وی اوزمونږله لوری په اطمینانٖ اوډاډوی ځکه دوئ په دې پوهیږی چې هفته دیهودوپه نزدډیره محترمه ده په دې کې دوئ بریدنه کوی دمسلمانانوله دې ناخبری څخه ګټه پورته کې اوناڅاپه پردوئ دشپې بریدوکړی ؟ بنوقریظه وورته وویل اې کعب ته په دې خبریې چې زمونږمشران ددې ورځې دبی حرمتی په وجه بیزوګیان اوخنزیران سوی دی اوته مونږته ددې امرکوی لنډه داچې دکعب یوه خبره هم ونه منل سوه

بنوقریظه وول رسول الله ﷺ څخه غوښتنه وکړه چې ابولبابه ؓ مونږته راولیږه ددې لپاره چې مونږله هغه سره مشوره وکړو له ابولبابة بن عبدالمنذر ؓ سره دبنوقریظه وو دوستانه اړیکی وی ځکه دوئ په دې بناء باندی داامیدوو چې کیدای سی هغه په دې تنګ وخت کې له مونږسره مرسته وکړی ، رسول الله ﷺ ابولبابة ؓ ته اجازه ورکړه ابولبابة ؓ ورغلی کله چې هغه ورسیدی نودبنوقریظه ټول خلک رایوځای سو ښځواوکوچنیانوژړل ابولبابة ؓ چې کله دوئ ته وکتل زړه یې نرم سو بنوقریظه چې کله له ده څخه پوښتنه وکړه چې آیامونږدرسول الله ﷺ امرومنو اودهغه په فیصله راضی سو ؟ ابولبابة ؓ وویل هو غوره خبره همداده مګر دستونی وخواته یې اشاره وکړه یعنی په توروبه حلالیږی ځکه رسول الله ﷺ ستاسودوژلواراده کړی ده ابولبابه ؓ لادخپل ځای څخه نه وو لاړسوی سمدستی پرحال سو چې آه تاخوداالله ﷻ اودهغه له رسول ﷺ سره خیانت وکی له هغه ځایه سمدستی مسجدنبوی ته راغلی اوپه یوه ستنه پوری یې ځان وتړی اوقسم یې واخیستی چې ترڅوپوری الله ﷻ زماتوبه قبوله نه کړی ترهغه وخته پوری به په دې ستن پوری تړلی یم اوله الله تعالی سره یې داژمنه وکړه چې په بنوقریظه کې به هیڅکله بیاپل نه ایږدم په کوم

سیف لودین کتابتون

رسول الله ﷺ چې کله خبرسو نووې فرمایل : که هغه سیده زماخواته راغلی وای نومابه دهغه لپاره ښښنه غوښتی وه مګر کله چې هغه سیده مسجدته ولاړی نوزه دئ په خپل لاس نه خلاصوم ترڅوپوری چې الله تعالی دهغه توبه قبوله نه کړی (۱)

بنو قریظه آخرمجبوره سو اوودې ته تیارسو چې رسول الله ﷺ چې څه امرکوی هغه موږ منو لکه څنګه چې د خزرج قبیلی اوبنونضیر دوستانه اړیکی وی دغه رنګه دبنو قریظه اواوس قبیلی هم دوستانه اړیکی وی نوځکه اوس قبیلی له رسول الله ﷺ څخه غوښتنه وکړه چې دخزرج په غوښتنه رسول الله ﷺ دبنونضیرسره کومه معامله کړی وه دغه رنګه زموږپه غوښتنه باندی له بنو قریظه سره معامله وکړه رسول الله ﷺ واوس قبیلی ته وویل آیاتاسوپه دې خوښ یاست چې ستاسوفیصله دې په تاسوکې یوڅوک وکړی دوئ وویل هوسعدبن معاذ ؓ چې کومه پریکړه وکړی هغه زموږمنظوره ده سعدبن معاذ ؓ خوپه خندق کې ټپی سوی وو رسو ل الله ﷺ دده لپاره په مسجدنبوی کې یوه خیمه ودروله چې له نژدی څخه دده پوښتنه وکړی دده دراغوښتلولپاره یې خلک ولیږل هغه په خره سپوروو اوتشریف یې راوړی کله چې رسو ل الله ﷺ ته نژدی راورسیدی نورسول الله ﷺ وفرمایل (قوموا الی سیدکم) دخپل مشر داحترام اودرناوی لپاره ولاړسی (۲)

کله چې هغه له خره راکښته سو نونبی کریم ﷺ وفرمایل چې دې خلکوپریکړه تاته سپارلی ده سعد ؓ وویل چې زه ددوئ په اړه داسی پریکړه کوم لوموړی ددوئ جنګی خلک دی ووژل سی یعنی نارینه دی ووژل سی اوښځي اوماشومان دی بندیان سی مینځي اومریان ځنی جوړسی اوددوئ ټول مالونه اوسامانونه دی په مسلمانانوو ویشل سی ،

رسول الله ﷺ وفرمایل رښتیاهم تادالله دحکم برابره پریکړه وکړه تردی وروسته سعد ؓ دادعاوکړه اې الله ﷻ ته په دې ښه خبریې چې زماتردی بل خوښ شئ نسته چې زه له هغه قوم سره جهادوکړم کوم چې ستارسول ﷺ یې دروغجن ګڼلی دی اوله حرم څخه یې راایستلی دی الله ﷻ زه دافکرکوم چې تازموږاوددوئ ترمینځ جنګ پای ته رسولی دی نوکه له قریشوسره جنګ پاته وی نوماژوندی وساته ددی لپاره چې ستاپه لاره کې له هغوئ سره جهادوکړم اوکه جنګ پای ته رسیدلی وی نوزمادا ټپ خراب کړی اوپه همدی مې شهادت راپه برخه کی کله چې ده دعاپای ته رسوله نوله ټپ څخه وینه جاری سوه اوددهمدی ټپ له کبله شهید سو روح دی ښاد وی (اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ)

جابر ؓ وایې چې ماله رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې ویل یې دسعدبن معاذ ؓ په مرګ سره عرش وښوریدی (بخاری)

---

(۱) سیرة ابن هشام جلد ۲ /ص / ۱۴۶، البدایه والنهایه جلد ۴ /ص /۱۱۹)

(۲)

اوپه یوروایت کې راغلی دی چې داسمان ټولی دروازی دهغه لپاره خلاصی سوی او داسمانو ملائکه وی دهغه دپاک روح په خیژولو سره خوشاله سوی (رواه الحاکم، فتح الباری مناقب سعدبن معاذ‌رضی الله عنه)

اویازره ملائکه وو دهغه په جنازه کې ګډون وکی چې هغه تردی مخکې هیڅ کله نه وی راکښته سوی (ذکره ابن عائذ) ورواه البزار واسناده جید (۱)

په انصاروکې یوه سړی دسعدبن معاذ‌رضی الله عنه په اړه یوشعرویلی دی

وماهتزّ عرش الله من موت هالک .... سمِعنَابه الا لِسَعدابی عمرو

(استیعاب لابن عبدالبر جلد/۲/ صفحه ۲۲/ ترجمه سعدبن معاذ‌رضی الله عنه)

موږپرته له سعدبن معاذ‌رضی الله عنه دبل چاپه مرګ سره نه دی اوریدلی چې دالله ﷻ عرش دهغه په مړینه سره ښوریدلی دی اودهغه دقبرمبارک څخه به دمشکوخوشبویې راتله، والله سبحانه وتعالی اعلم (روض الانف جلد /۲/ صفحه /۱۹۳)

بنوقریظه ټول بندیان سو اومدینی منوری ته راوستل سو اودیوی انصاری ښځي په کورکې وساتل سو په بازار کې ددوئ لپاره خندقونه وکیندل سو وروسته به دوه ۲دوه ۲ اوڅلور۴ څلور۴ له هغه کوره راایستل کیدل اوپه خندق کې به ددوئ سرونه پریکیدل، حیی بن اخطب اودبنوقریظه د مشرکعب بن اسدسرونه هم غوڅ سو دحیی بن اخطب په وینا کعب بن اسدله رسول اللهﷺ سره لوظ مات کی کله چې دنبی کریمﷺ مخ ته راوستل سو نورسول اللهﷺ ته یې وکتل اووې ویل چې قسم په اللهﷻ زه خپل نفس ستاددښمنی په اړه نه ملامتوم مګر حق دادی چې الله تعالی چې دچامرسته ونه کړی دهغه هیڅ مرستندوئ نسته بیایې خلکوته وکتل او ورته وې ویل اې خلکوتاسو مه خفه کیږی اللهﷻ چې دبنی اسرائیلولپاره کومه سزاټاکلی وه اوکوم غم چې یې ددوئ لپاره لیکلی وو هغه پوره سو تردی ویناوروسته چې کینستی دهغه سرغوڅ سو په ښځوکې یوه هم نه ده وژل سوی پرته له هغه ښځي چې جرم یې کړی وو جرم یې داوو چې د خونی له بامه یې دژرندی پل پرخلادبن سویدرضی الله عنه راغورزولی وو اوهغه په همدی شهیدسو، ابن هشام لیکلی دی چې دهغې ښځي نوم بُنانه وه دحَکَم قرظي ښځه وه (عیون الاثرجلد /۲/ صفحه /۷۸)

په ترمذی، نسائی. ابن حبان کې له جابررضی الله عنه څخه په صحیح سند سره روایت سوی دی چې ددوئ شمیرڅلورسوه تنه وو دبنوقریظه بندیان دپلورلولپاره دنجداوشام وخواته ولیږل سول اوددوئ په قیمت آسونه اوسلا وی واخیستل سوی اوکوم مالونه اوسامانونه چې له بنوقریظه وو څخه په غنیمت ونیول سو هغه پرمسلمانانو وویشل سو (۱)

دبنوقریظه په غزاکې الله تعالی داآیتونه نازل کړه :وَاَنۡزَ الَّذِیۡنَ ظَاهَرُوۡهُمۡ مِّنۡ اَهۡلِ الۡکِتَابِ مِنۡ صَیَا

---

(۱) البدایه والنهایه جلد /۴/ ص /۱۲۸)

(۲) [illegible]

سیف لودین کتابتون

صِيهِمْ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيقًا تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ وَأَرْضًا لَمْ تَطَئُوهَا وَكَانَ اللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا (کماقال الله تبارک وتعالی: فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا)

ژباړه: اوکومو اهل کتابوچې دهغوئ مرسته کړې وه الله تعالی هغوئ له خپلو کلاوو راکښته کړل اودوئ په زړوکې یې ستاسو ویره واچوله یوه ډله تاسو وژله اویوه ډله مو بندیان کړل اوالله تعالی تاسو وارثان وګرزولاست ددوئ دمالو اوځمکی اوددوئ دهغو مالوچې په هغه باندی تاسو لاتراوسه پل نه دی ایښي اوالله تعالی په هرشئ باندی قدرت لری.

تنبیه؛ دبنوقریظه په اړه دسعدبن معاذ رضی الله عنه پریکړه دتورات دحکم برابره وه چې په هغه باندی دیهودوایمان وو لکه چې دتورات په سفرداستثناء شلم باب اولسم آیت کې راغلی دی: کله چې ته کوم ښارته دجګړی لپاره راسی نولومړی دوئ ته دسولې پیغام ولیږه که دوئ سوله ومنله اوستالپاره یې دروازې پرانیستلې نوټول خلک چې په دې ښارکې دی هغه به تاته مالیه درکوی اوستاخذمت به کوی اوکه دوئ لتاسره سوله ونه کړه بلکې لتاسره یې جګړه وکړه نوته دوئ محاصره کړه اوکله چې الله تعالی دوئ ستاپه واک کې راولی نوددوئ جګړه کونکی خلک په توره قتل کړه مګر ښځې اوماشومان اوپسونه اوهرڅه چې په دې ښارکې دی هغه ټول شیان ځان ته واخله اوته دخپلو دښمنانو لوټ سوی شیان کوم چې الله ﷻ تاته درکړی دی وخوره (فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا)

له بل لوری ابولبابة رضی الله عنه دمسجدپه ستن پوری تړلی پروت دی یوائې دلمانځه اوحاجت لپاره پرانیستل کیدی نه یې خوراک کوی اونه څښاک اودابه یې ویل چې زه به تل داسی یم ترڅوچې مړشم یاالله عزوجل زماتوبه قبوله کړی شپږورځې وروسته دسهارپه وخت کې دده توبه قبوله سوه په دغه وخت کې رسول الله ﷺ دام سلمه رضی الله عنها په کورکې وو ام سلمه رضی الله عنها له رسول الله ﷺ څخه اجازه وغوښته چې پرابولبابة رضی الله عنه باندی زیری وکی اومبارکی ورکړی مسلمانانو رامنډی کړی چې هغه خلاص کړی خوابولبابة رضی الله عنه وویل ماقسم کړی دی چې ترڅوپوری رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک ماخلاص نه کړی ترهغه وخته پوری به ځان نه خلاصوم کله چې رسول الله ﷺ دسهاردلمانځه لپاره تشریف راوړی نوپه خپل لاس مبارک یې هغه خلاص کی.

نکته؛ پرابولبابة رضی الله عنه باندی دپښیمانتیاداسی کیفیت راغلی چې ځان یې دمسجدپه ستن پوری وتړی اوقسم یې وخوړی چې ترڅوپوری زماتوبه قبوله نه سی اورسول الله ﷺ ماپه خپل لاس مبارک خلاص نه کړی ترهغه وخته به زه په دې ستن پوری تړلی یم که څه هم ماته مرګ راسی دایوځانګړی حالت اوکیفیت وو داحالت کله ناکله دالله ﷻ

سیف لودین کتابتون

پر مخلصو دوستانو باندی راځي دا یو داسی حالت وو چی الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ خوښ کړ الله ﷻ دابولبابه رضی الله عنه په اړه داآیت نازل کي يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ (سورة انفال آیت ۱۵۲) او دهغه دتوبی په اړه داآیت نازل سو (وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ)

ابولبابه رضی الله عنه شل ورځی دمسجد په ستن پوری تړلی وو کله چی داآیت نازل سو نو په خپله رسول الله ﷺ مسجدته تشریف راوړی او ابولبابه رضی الله عنه ته یې زیری ورکي او په خپل لاس مبارک یې خلاص کي

له دې معلومه سوه چی دمینی په جوش کې داسی حالت او کیفیت راتلل دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ په نزد غوره ده او دهغه نه منل مناسب نه دی داسی کیفیت او حالت راتلل عقلا دمینی او محبت او دعشق له لوازمو څخه دی کوم خلک چی دښو علماء داسی حالات نه منی پر دوئ داګمان کیږی چی ددوئ زړونه دالله ﷻ له مینی خالی دی کله چی انسان په مینه اخته سی نو خپل حواس او عقل له لاسه ورکوی ترکټو لاندی چی اور په زوره سی نو حتماکټو په زوره جوش خوری بهرحال دداسی مینی او حالت څخه انکار کول کیدای نه سی

دعائشه صدیقه رضی الله عنها په اړوند چی کله آیتونه نازل سو نو صدیق اکبر رضی الله عنه عائشه صدیقه رضی الله عنها ته وویل اې لوری ولاړه سه او دنبی کریم ﷺ شکرآداکړه ؟ عائشه صدیقه رضی الله عنها وویل (انا لااشکر الاربی) زه پرته له خپل پالونکی دبل هیچاشکر نه آداکوم داهم دمینی یو کیفیت وو چی دالله رب العزتْ ددې بی مثاله نعمت په لیدو دومره خوشاله سوه چی دنبی کریم ﷺ دشکر څخه یې هم انکاروکي او رسول الله ﷺ وهغې ته هیڅ هم ونه ویل نو له دې معلومه سوه چی په داسی حالت کې انسان معذوردی ، که داسی نه وی په حقیقت کې داټول درسول الله ﷺ دزوجیت برکت وو ، دبرائت دآیاتو دنازلیدو په وجه پر عائشه صدیقه رضی الله عنها باندی داسی حالت راغلی چی په دې حالت کې یې داکلمات له ژبی ووتل (انا لااشکر الاربی)

(هذاتوضیح ماافاده الشیخ عبدالحق المحدث الدهلوی فی مدارج النبوة)

له رسول الله ﷺ سره دزینب بنت جحش رضی الله عنها نکاح دهجرت پنځم کال

دهجرت په پنځم کال رسول الله ﷺ له زینب بنت جحش رضی الله عنها سره نکاح وکړه :

(قال القتادة والواقدی وبعض اهل المدینة تزوجها علیه السلام سنة خمس زادبعضهم فی ذی القعدة قال الحافظ البیهقی تزوجها بعدبنی قریظة وقال خلیفة بن خیاط وابوعبیدة ومعمر بن المثنی وابن منده تزوجها سنة ثلاث والاول اشهر وهوالذی سلکه ابن جریر وغیرواحدمن اهل التاریخ . البدایة والنهایة جلد/۴/صفحه /۱۴۵)

سيف لودين كتابتون

ژباړه : قتاده او واقدی او د مدينی يو شمير نورو علماء ويلی دی چې رسول اللهﷺ له زينب رضی الله عنها سره په کال پنځم هجری کې نکاح وکړه او يو شمير نورو دا هم ورزيات کړی دی چې د ميانی په مياشت کې وسوه او امام بيهقی فرمايې چې د زينب رضی الله عنها نکاح د بنی قريظه له غزا وروسته وسوه ، او خليفه بن خياط او ابوعبيدة او معمر او ابن منده بيا وايې چې په کال دريم هجری کې د زينب رضی الله عنها نکاح وسوه او لومړی قول يعنی د کال پنځم هجری خبره ډيره مشهوره ده او همدا خبره ابن جرير او نورو ډيرو تاريخ ليکونکو غوره کړی ده ..

د زينب رضی الله عنها د نکاح تفصيلی بيان به ان شاء الله تعالی د امهات المؤمنين په بيان کې راسی .

د پردې کولو حکم د الله عزوجل له لوری نازل سو

د زينب رضی الله عنها د نکاح په ورځ کې د پردې آيت نازل سو يعنی دا آيت کريمه (وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ الْحِجَابِ)سورة احزاب ، ودې آيت د پردی آيت وايې ، ښځه دی له نارينه څخه پرده کوی چې نکاح يې ورسره روا وی او په سورة نور کې چې کوم آيتونه نازل سوی دی يعنی (قُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا . الی قوله تعالی : لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ) دا آيتونه د فرج د پټولو په اړه نازل سوی دی و دې ته آيات الستر وايې يعنی د بدن څومره برخه هروخت پټول ضروری دی او د بدن څومره برخه که ښکاره سی روا ده مثلاً په کورکې د مخ او لاسو پټول لازم نه دی ځکه دا اندامونه که هروخت پټ وساتل سی نو ستونزی او مشکلات رامنځ ته کيږی بلکې ددې مطلب دا نه دی چې که هرچاته غواړی مخ دې ښکاره کی ځکه که دا مطلب سی نو بيا د پردی د حکم څه فايده سوه ددې تفصيل به ان شاء الله د زينب رضی الله عنها په قصه کې راسی .

د هجرت شپږم کال د محرم په لسمه محمد بن مسلمه رضی الله عنه د قرطاء ولوری ته وليږل سو

د هجرت شپږم کال د محرم الحرام په لسمه رسول اللهﷺ محمد بن مسلمه د ديرش تنه سپرو سره قرطاء(۱) ته وليږی دوئ ولاړل او پرهغوئ يې بريد وکي لس تنه يې ووژل او نور وتښتيدل يو نيم سل اوښان او درې زره پسونه او بزی په غنيمت ونيول سو ټول يې راوستل او د رسول اللهﷺ په خذمت کې حاضر سو نولس ۱۹ ورځې وروسته د محرم په ۲۹ هم اصحابه کرام رضی الله عنهم مدينی منوری ته راورسيدل رسول اللهﷺ پنځمه برخه ځنی بيله کړه او نور غنيمت يې پر مجاهدينو وويشی په ويش کې يو آس د لسو پسو برابر وګرزيدی (۲)

په صحيح بخاری کې له ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت سوی دی چې دې صحابه کرام رضی الله عنهم د بنی حنيفه مشر ثمامه بن أثال بندی سو مدينی ته يې رسول اللهﷺ ته راوستی ، نبی کريمﷺ ثما

(۱) قرطاء د بنی بکر د قبيلی يو ښاخ دی له مدينی منوری څخه د دوو ورځو مزل دی دوئ دا ضربه په نامه ځای کې اوسيدل ، زرقانی
(۲) طبقات ابن سعد جلد ۲ / ص / ۵۶)

سیف لودین کتابتون

ثمامه بن اثال د مسجد په ستن پورې وتړی د دې لپاره چې د مسلمانانو لمنځونه او د الله ﷻ په دربارکې عجز او فریاد وويني چې د عبادت په ليدلو سره الله ﷻ ياديږي او د مسلمانانو عمل ته په کتلو سره د آخرت مينه پيدا کيږي او د هغوئ برکات او رڼا ګانې د تورزړوتياری روښانه کوی، رسول الله ﷺ چې به کله د ثمامه وځنګ ته تيريدی نو ورته فرمايل به يې اې ثمامه زما په اړه ستا څه نظر دی ثمامه به ويل زما نظر ستا په اړه ښه دی (ان تقتل تقتل ذادم وان تنعم تنعم علی شاکر وان کنت تريد المال فسل ماشئت) ژباړه: که ته ما ووژنې نو هغه څوک به دې وژلی وی چې د وژلو مستحق دی او که احسان راسره وکړی نو دا به دې په يو شکرکښونکی باندی احسان او نيکي وی او که مال غواړی نو څومره چې ته غواړې زه بی درته راوړم

رسول الله ﷺ د دې خبری په اوريدو سره غلی تيرسو په دويمه ورځ بيا د ثمامه وځنګ ته تيرسو اوله ثمامه يې پوښتنه وکړه اې ثمامه زما په اړه ستا څه ګمان دی؟ ثمامه د رسول الله ﷺ نرمی او مهربانی محسوس کړه او دويمه او دريمه خبره يې ونه کړه او يوائې دومره يې وويل (ان تنعم تنعم علی شاکر) که ته نيکی راسره وکړی نو په شکرکښونکی باندی به دې احسان کړی وی، نبی کريم ﷺ بيا تيرسو په دريمه ورځ بيا د هغه وځنګ ته تيرسو اوله ثمامه يې پوښتنه وکړه چې اې ثمامه زما په اړه ستا څه فکر دی؟ ثمامه وويل زما هغه ګمان دی چې پرون مې درته وړاندی کې دريمه ورځ ثمامه (ان تنعم تنعم علی شاکر) توری ونه ويل او خپله معامله يې رسول الله ﷺ ته د ښو اخلاقو او ډيری مهربانۍ له کبله پريښوده رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ؓ ته وويل ثمامه خلاص کې، د ابن اسحاق په روايت کې راغلی دی چې په خپله يې ثمامه ته وويل (قدعفوت عنک ياثمامة واعتقتک) اې ثمامه ماته وبښلی او آزاد مې کړی، ثمامه له آزاديدو سره سم مسجد ته نژدې د خورما و يو باغ هغه ته ولاړی او غسل يې وکی او بيرته مسجد ته راغلی او وې ويل (اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ) ورسول الله ﷺ ته يې وويل اې محمد ﷺ تر دې مخکې ماته ستا ترمخ په دنيا کې بل مبغوض مخ نه وو او نن ستا ترمخ په دنيا کې بل محبوب او غوره مخ نسته او تر اوس مخکې ستا تر دين بل ډير مبغوض دين نه وو او نن تر ټولو اديانو ستا دين ماته ډير محبوب دی او ستا تر ښار بل هيڅ ښار ماته مبغوض نه وو او نن ستا تر ښار بل هيڅ ښار ماته محبوب ندی، زه د عمری په نيت روان وم په لاره کې ستا ملګرو ګير کړم او تا ته يې راوستم او س چې ستا څه امر وی هغه کوم رسول الله ﷺ ورته وويل ته ولاړ سه او عمره وکړه او دا زيری يې ورکې چې ته به روغ رمټ راځې او تا ته به هيڅوک ضرر نه سی رسولای.

سیف لودین کتابتون

ثمامه ﷛ چې کله مکې ته ورسیدی نویو کافرورته وویل چې ثمامه ته بې دینه سوی یې ثمامه ﷛ وویل نه هیڅ کله نه زه رسول الله ﷺ ته تسلیم سوی یم یعنې زه بې دینه سوی نه یم ځکه کفراو شرک هیڅ دین نه دی بلکې لغوه او بې معنی شئ دی زه د الله ﷻ پیروی کونکی او امرمنونکی یم اوخپل ځان مې الله ﷻ ته سپارلی دی قسم په الله ﷻ که زه هیڅکله ستاسو مذهب ته بیرته وګرزم اوښه پوه سی چې دیمامه له لوري چې تاسوته کومه غله راتله له دی وروسته به یوه دانه هم تاسوته نه راځي ترهغه وخت چې رسول الله ﷺ اجازه ونه کړی ، ثمامه چې کله یمامه ته ورسیدی نوپرقریشویې غله بنده کړه قریش مجبوره سو اورسول الله ﷺ ته وړاندیزوکې چې ته خو دصله رحمی حکم کوی نو موږ ستا خپلوان یو ته ثمامه ته لیک ولیږه چې غله راپریږدی ؟ رسول الله ﷺ ثمامه ته لیک ولیږی چې پرقریشو غله مه بنده وه (بخاری شریف) وفتح الباری جلد ۸ /صفحه /۲۸، باب وفد بنی حنیفة

مسئله ؛ کوم سړی چې په اسلام کې داخل سی دهغه لپاره غسل کول مستحب دی ، لکه چې په فتح القدیر کې راغلی دی .

ثمامه بن اثال ﷛ له غوره صحابه کرام ﷡ دی درسول الله ﷺ تروفات وروسته چې کله دیمامه خلک له دین اسلام واوښتل اود مسیلمه کذاب سره ملګری سو نو ثمامه ﷛ ودې خلکوته دا آیتونه تلاوت کړه (بسم الله الرحمن الرحیم ﴿حم﴾ ﴿تَنزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللهِ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ﴾ ﴿غَافِرِ الذَّنبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ إِلَيْهِ الْمَصِيرُ﴾ ()

ژباړه : داکتاب نازل سوی دی دهغه الله ﷻ له لوري چې غالب دی اوپوه دی اودګناهونوبښونکی اودتوبې قبلونکي دی اومجرمانوته سخت سزاورکونکي دی اودوستانوته لوی بدله ورکوني دی له هغه پرته بل څوک دعبادت وړ نسته هغه ته دټولو خلکو ورتلل دی .

وروسته یې خلکوته وویل اې خلکو ښه انصاف وکړی چې ددې معجز کلام اود مسیلمه کذاب ددرواغو څومره توپیر دی .

دثمامه ﷛ دربنتینوالی اودځانګړی اخلاص خبرو دااثروکې چې درې زره تنه دمسیلمه پلوی پریښوده اوداسلام په غیږه کې بیرته داخل سو (زرقانی جلد ۲ /ص /۱۴۴)

دابن اسحاق په روایت کې راغلی دی چې کله دیمامه خلک له دینه واوښتل نو ثمامه ﷛ خلک دمسیلمه کذاب له منلو اوپیروی کولو راوګرزول اودایې ورته ویل :

(ایاکم وامرا مظلما لانورفیه وانه لشقاء کتبه الله عزوجل علی من اخذبه منکم وبلاء علی من لم یأخذمنکم یابنی حنیفة) ژباړه : اې خلکوتاسو خپل ځانونه له هغې تیاری درلودونکی کارڅخه راوګرزوی چې په هغه کې دڼانوم هم نسته ربنتیاهم دابدبختی ده چې الله ﷻ دهغو خلکولپاره لیکلی ده کوموچې دابدبختی قبوله کړه اوازموینښت اوامتحان دی دهغه خلکولپاره چې

مګر ثمامه رضی الله عنه له دوئ ناهیلی سو چې نصیحت پر دوئ اثر نه کوي او خلک ټول د ګمراهۍ په لار روان دي نو کوم خلک چې له ده سره وو هغوئ ته یې وفرمایل قسم په الله ﷻ زه په دې ښارکې نه اوسیږم زه په دې پوهیږم چې الله تعالی به دوئ په فتنه کې اچوي څوک چې زما ملګري غواړي هغه دې راسره ولاړ سي، ثمامه رضی الله عنه د مسلمانانو له یوې ډلې سره له هغه ځایه ولاړی او د علاء بن حضرمي رضی الله عنه سره یو ځای سو او په دې اړه ثمامه رضی الله عنه څه شعرونه هم وویل:

دعانا الی ترک الدیانة والهُدی .... مسیلمة الکذاب اذ جاء یَسْجَعُ

مسیلمه دورغجن موږ ته د دین او سمې لارې پرېښودو بلنه راکړه کله چې هغه د جادو ګرانو په څېر خبرې کولې.

فیاعجباً من معشر قد تتابعوا .... له فی سبیل الغیّ والغیُّ اشنع

حیرانتیا ده وهغه خلکو ته چې دوئ د هغه په خبره بې لارې سو او سره له دې چې د ابې لارې ډېر بد شئ دی (کذافی الاستیعاب لابن عبدالبر ترجمه ثمامه رضی الله عنه)

د ذی قرد غزا د هجرت شپږم کال د لومړۍ خور میاشت(۱)

ذی قرد دیوی چینی نوم دی چې هغه د غطفان ښارته نژدې ده د رسول الله ﷺ داوښانو پر څرځای باندې عیینه بن حسن فزاري د څلویښت کسانو په ملګرتیا برید وکی او د رسول الله ﷺ اوښان یې له ځان سره بوتلل دابوذر رضی الله عنه زوی چې د هغه اوښانو ساتنه کول هغه یې شهید کی او دابوذر رضی الله عنه ښځه یې بندي کړه او له ځان سره یې بوتله،

سلمه بن اکوع رضی الله عنه د پیښې له خبرېدو سره سمدستي د هغوئ په لټون پسې روان سو او پر یوه غونډۍ ودرېدی او دا ناره یې وکړه (یاصباحا) درې ځله یې دا نعره وکړه چې د دې ناري په اورېدو سره په ټوله مدینه کې زوږ او شورجوړ سو سلمه بن اکوع رضی الله عنه ډېر ښه غشی ویشتونکی وو هغه په دوئ پسې ولاړی او دوئ یې داوبو پر یوه چینه ګېر کړل پر دوئ یې غشي وا وروڵ کله چې به ده غشي ویشتل نو دا شعرونه به یې لوستل:

انا ابن الاکوع .... والیوم یوم الرضع

زه داکوع زوی یم او نن ورځ به معلومه سي چې چا د شریفې مور شیدې رودلې دي او څوک ذلیل او سپک دي

سلمه بن اکوع رضی الله عنه دوئ تر بریدلاندې ونیول ټول اوښان یې ځنې خلاص کړه او دېرش یمنی پټوان یې له هغوئ غنیمت ونیول او را واخیستل د ده له تګه وروسته رسول الله ﷺ پنځه سوه یا اووه سوه صحابه رضی الله عنهم په ملګرې روان سو او ډېر ژر هلته ورسیدل رسول الله ﷺ

(۱) د دې غزا په تاریخ کې اختلاف دی ابن سعد وایې چې دا غزا په کال شپږم هجري د لومړۍ خور په میاشت کې سوې ده او امام بخاري رحمه الله وایې چې په کال اووم هجري کې د خیبر تر غزا درې ورځې مخکې سوې ده مګر ټول علماء پر دې یوه خوله دي چې دا غزا په کال شپږم هجري کې سوې ده او د حدیبیه تر سوله مخکې ده د تفصیل د پاره فتح الباري جلد ۷ / ص /۳۵۲ وګورئ)

سيف لودين کتابتون

ترتلو مخکې هم څو سپاره ليږلي وو هغه کسان مخکې ورسيدل او ددوئ مقابله يې وکړه دوه تنه له مشرکينو ووژل سوه يو مسعدة بن حَکَمَة چې ابو قتاده ﷺ ووژی او بل ابان بن عمر چې هغه بيا دعکاشه بن محصن ﷺ په لاس ووژل سو او دمسلمانانو له ډلې څخه مُحرز بن نضله ﷺ چې دهغه لقب اخرم (۱) دی دعبد الرحمن بن عيينة په لاس شهيد سو سلمه بن اکوع ﷺ رسول الله ﷺ ته راغلی او غوښتنه يې وکړه چې يا رسول الله ﷺ ما هغوئ په فلانی ځای کې تږی پريښودل او راغلم که سل تنه ملګری ماته راکې نو ټول به بنديان راولم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: (ياابن الاکوع اذاملکت فاسجع) اې داکوع زويه کله چې ته زورور سی نو نرمی کوه (۲) مشرکينو ماته وخوړه او وتښتيدل رسول الله ﷺ يوه شپه او ورځ هلته پاته سو او صلوة الخوف يې اداکی او پنځه ورځی وروسته مدينی منوری ته بيرته راستون سو، زرقانی جلد ۲/ص/۱۵۳)

دبني لحيان غزا دهجرت شپږم کال

دلومړی خور مياشت

دهجرت شپږم کال دلومړی خور په مياشت کې رسول الله ﷺ په خپله دعاصم بن ثابت ﷺ اوخبيب بن عدی ﷺ اونورو شهيدانو درجيع دپيښيدبدلی اخيستو لپاره دوه سوه تنه صحابه کرام ﷺ له ځان سره ملګری کړه او روان سو بنولحيان درسول الله ﷺ په راتګ خبرسو وتښتيدل په غروکې پټ سو رسول الله ﷺ دوې ورځي هلته پاته سو او شاو خواته يې واړه واړه ګروپونه وليږل او پرته له جنګ رسول الله ﷺ بيرته مدينی ته راستون سو او په ژبه مبارکه يې داکلمات جاری وو. آيبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ رَبَّنَا حَامِدُونَ اعوذبالله من وعثاء السفر وکابت المنقلب وسوء المنظر فی الاهل والمال (طبقات ابن سعد جلد ۲/ص/۵۶، زرقانی جلد ۲/ص/۱۴۷)

دعکاشه بن محصن رضی الله تعالی عنه سريه دغَمر (۱) په لوری دهجرت شپږم کال

دلومړی خور مياشت

دهجرت شپږم کال دلومړی خور په مياشت کې رسول الله ﷺ عکاشه بن محصن ﷺ له څلويښتو ملګرو سره دغمرو لوری ته وليږی مګر هغه خلک خبر سو سمدستی وتښتيدل کله چې دوئ ورسيدل څوک په لاس نه ورغلو نو شجاع بن وهب يې دلټون لپاره يوی خواته وليږی له نښو نښانو څخه صحابه کرام ﷺ ته هيڅ معلومات نه کيدی په دغه وخت کې يو سړی ددوئ لاس ته ولويدی هغه يې بندی کې او پوښتنه يې ځنی وکړه هغه دپسو او نور څارووځای وښودی دوئ بريد پروکی دوسوه اوښان يې په غنيمت ونيول (طبقات ابن سعد جلد ۲/ص/۶۱)

(۱) غمر داوبو دچينی نوم دی

سیف لودین کتابتون

دمحمد بن مسلمه رضی الله تعالی عنه سریه دذی القصه په لوری (۱)

په همدی کال دڅلورمی خورپه میاشت کې رسول الله ﷺ محمدبن مسلمه رضی الله عنه له لسوتنو صحابه کرام رضی الله عنهم سره دذی القصه ولوری ته دبنی ثعلبه اوبنی عُوال دمقابلی لپاره ولیږل دشپی دوئ هم هلته ورسیدل اوویده سو مشرکین په غروکې پټ سوی وو کله چی دوئ ویده سو نوسل تنه مشرکین راغلل اودشپی یې پرمسلمانانوبریدوکي اوټول یې شیهدان کړه محمدبن مسلمه رضی الله عنه ټپي سو ددوئ په فکرهغه هم شیهدسوپریښودی اودوئ ولاړل یومسلمان ددوئ وڅنګ ته تیریدی محمدبن مسلمه رضی الله عنه یې راپورته کي اومدینی ته یې راورسوی .

دابوعبیدة بن الجراح رضی الله عنه سریه دذی القصه په لوری

رسول الله ﷺ ابوعبیدة بن الجراح رضی الله عنه له څلویښتوملګروسره دذی القصه وخواته ولیږی دوئ چی کله ورسیدل سمدستی یې پرهغوئ بریدی وکي مشرکینوماته وخوړه او وتښتیدل ابوعبیدة رضی الله عنه ددوئ پسونه ، بزی، ګیرکړه اومدینه منوری ته بیرته راستون سو ودې سریه ته ذی القصه ثانیه وایې

دجمُوم سریه دهجرت شپږم کال دڅلورمی خورمیاشت)

دهجرت شپږم کال ددویمی خورمیاشت وه رسول الله ﷺ زیدبن حارثه رضی الله عنه جموم ته ولیږی جموم له مدینی څخه څلورمیله لیری وو دبنی سلیم دمقابلی لپاره چی کله صحابه کرام رضی الله عنهم ورسیدل نورشئ په لاس ورنه غلی یوه ښځه وه هغې دمشرکینومعلومات ورکړه مسلمانانوپرهغه ځای بریدوکي بنوسلیم څه بندیان سو اوڅه اوښان اوپسونه یې غنیمت ونیول سو دوې ورځې وروسته دوئ مدینی ته راورسیدل (۲)

دعیص سریه دهجرت شپږم کال ددریمی خورمیاشت

رسول الله ﷺ ته خبرورسیدی چی دقریشویوه تجارتی قافله له شامه را روانه ده ددې خبرپه اوریدوسره رسول الله ﷺ زیدبن حارثه رضی الله عنه له سل تنه ملګروسره دعیص په نامه ځای ته ولیږی داځای له مدینی منوری څخه دڅلورو ورځومزل دی دسیندغاړی ته نژدی ساحل ته واقع دی هلته به دقریشوتجارتی قافلی تیریدلی ، مسلمانان چی کله ورسیدل نودقافلی ټول خلک یې ونیول اوددوئ ټول مالونه اوسامانونه یې غنیمت کړه ټوله یې راوړه ومدینی منوری ته په بندیانوکې درسول الله ﷺ زوم ابوالعاص بن ربیع هم وود نبی کریم ﷺ لور زینب رضی الله عنها عص بن ربیع ته پناه ورکړه اونبی کریم ﷺ هم ددې پناه ومنله اودده ټول سامان اومال یې بیرته ورکي (۳)

---

(۱) ذی القصه داوبودچینی نوم دی چی له مدینی منوری څخه شل میله لیری ده ،، زرقانی)
(۲) طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص /۶۲، ۶۳، زرقانی جلد ۲ /ص /۱۵۵)
(۳) طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص /۶۲، ۶۳)

دطَرَف سریه دهجرت شپږم کال څلورمه خور

طَرِف د چینی نوم دی دمَدینی منوری څخه شپږدیرش میله لیری پروت دی زیدبن حارثه ؓ یې له پنځه لس تنه ملګرو ؓ سره دبنی ثعلبه دمقابلی لپاره هغه ځای ته ولیږی غلیمان وتښتیدل زیدبن حارثه ؓ څه اوښان اوپسونه اوبزی په غنیمت ونیول هغه یې مدینی منوری ته راوستل اوبیرته راستون سو (۱)

دحسمی سریه (۲) دهجرت شپږم کال څلورمه خور !

دحیة الکلبی ؓ درسول الله ﷺ پیغام وقیصر روم ته وړی وو کله چی له هغه ځایه راتلی دروم باچاقیصر درسول الله ﷺ لپاره ډالۍ اوتحفی ورکړی پرلاره چی کله حسمی سیمی ته راورسیدی نو هنید جذامی دجذام قبیلی مشرله څو ملګرو سره دحیه ؓ ته لار ونیوه اوپرده باندی یې بریدوکي ټولی تحفی اوډالۍ یې څنی واخیستی یوازې یو زوړ پټو ورپاته سو نورسامان یې ټول څنی واخیستی رفاعه بن زید جذامی ؓ په اسلام مشرف سوی وو کله چی هغه په دې خبرسو نوده له ځان سره څونورمسلمانان ملګری کړه اوولاړی له هنید جذامی څخه یې هغه ټول شیان بیرته واخیستل اودحیة الکلبی ؓ ته یې وسپارل دحیه ؓ مدینی منوری ته راغلی رسول الله ﷺ یې له پیښې خبرکي رسول الله ﷺ دپنځه سوه صحابه کرام ؓ لښکرتیارکي اوزیدبن حارثه ؓ یې ددوئ مشروتاکی اودحسمی ولوری ته یې ولیږل دوئ به دشپې مزل کوی اودورځې به یوځای پټیدل یوه ورځ سهارهلته ورسیدل سمدستی یې پرجذام قبیله بریدوکي هُنید اودهغه زوی ووژل سو سل ښځې اوماشومان بندیان سو زر اوښان اوپنځه زره پسونه اوبزی په غنیمت ونیول سو له دوئ سره درفاعه بن زید ؓ خلک هم اوسیدل اوهغه مسلمانان وو په ناخبری سره دهغوئ ماشومان هم بندیان سوه رفاعه بن زید ؓ درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو رسول الله ﷺ علی ؓ له ده سره ملګری کي اوحکم یې وکی چی ټول بندیان پریښودل سی اوټول مال بیرته ورکړل سی تردی چی شړی بدنۍ اوکجاوه ټول شیان بیرته ورکړل سو (۳)

دوادی القری سریه بزرګه میاشت دهجرت شپږم کال (۴)

درجب په میاشت کې نبی کریم ﷺ زیدبن حارثه ؓ دبنی فزاره دمقابلی لپاره وادی القری ته ولیږی یو څو مسلمانان شهیدان سو اوزیدبن حارثه ؓ په ټپی حالت کې مدینی ته راغلی

---

(۱) طبقات ابن سعد جلد ۲/ص/۶۲، ۶۳)

(۲) حسمی دتری کندی ته نژدی ځای دی هلته دجذام قبیله آباده ده ابن سعد اوابن سیدالناس وایې چی داسریه شپږم کال دڅلورمی خور په میاشت کې سوی ده اوحافظ ابن قیم وایې چی داسریه دحدیبیه ترسوله وروسته ده ځکه دحدیبیه له راستیندو وروسته دحیة کلبی ؓ دروم پاچاته دپیغام رسولو لپاره ولیږل سو ، زرقانی جلد ۲/ص/۱۵۸)

(۳) ابن سعد جلد ۲/ص/۶۳) زرقانی جلد ۲/ص/۱۵۸)

سیف لودین کتابتون

ددومة الجُندَل سریه دهجرت شپږم کال دشعبان یابرات میاشت !

دعبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ په مسجد کې ناست وو ابوبکر رضی الله عنه اوعثمان رضی الله عنه اوعلی رضی الله عنه اوعبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه اوعبدالله بن مسعود رضی الله عنه اومعاذبن جبل رضی الله عنه اوحذیفة بن الیمان رضی الله عنه اوابوسعید خدری رضی الله عنه اولسم زه وم موږټول درسول الله ﷺ په مجلس کې ناست وو چې یو ځوان انصاری درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوسلام یې واچوی کېنستی اوپوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ (ای المؤمنین افضل) اې دالله ﷻ رسول ﷺ ترټولو غوره مسلمان څوک دی ؟

نبی کریم ﷺ وفرمایل (احسنهم اخلاقاً) ترټولو غوره هغه څوک چې اخلاق یې ترټولو ښه وی ، وروسته هغه پوښتنه وکړه (فأی المؤمنین اکیسُ) ترټولو هوښیاراوپوه څوک دی ؟

رسول الله ﷺ وفرمایل : (اکثرهم للموت ذکرا واکثرهم استعدادا له قبل ان ینزل به اولئک هم الاکیاس) ژباړه : کوم خلک چې ترټولو مرګ ډیریادوی اودمرګ څخه مخکې ترټولو ډیر دمرګ تیاری کوي داسې خلک پوه اوهوښیاران دی .

انصاری ځوان چوپ سو خورسول الله ﷺ مجلس ته مخ راواوړو او وې ویل پنځه خویونه ډیر خطرناک دی الله تعالی دې تاسو له هغو پنځو وساتي

۱ـ په کوم قوم کې چې بې حیایې په ښکاره توګه سره خپره سی نوپه هغه قوم کې به طاعون اوهغه ناجوړیانې خپرېږي چې هغه به مخکې تاسو هیڅکله نه وی لیدلې

ـ ۲ـ کوم قوم چې په ترازو (تله) اوناپ (ګز) کې کمی کوی هغوئ به په وچکالی اوبې وزلې اخته کیږی اوظالم پاچا به پردوئ مسلط کیږی

ـ۳ـ کوم قوم چې دخپلو مالوزکوة نه ورکوی پرهغوئ به بارانونه بندیږی که حیوانات نه وی نوییخی به له باران بې برخې وای

ـ۴ـ اوکوم قوم چې الله ﷻ اودهغه درسول ﷺ لوظ ماتوی نوالله ﷻ په پردوئ دښمنان مسلط کوي اوهغه به دبل قوم خلک وی له دوئ سره چې څه وی هغه ټول به ځنې اخلي

ـ ۵ـ اوکله چې امیران اوملایان دالله ﷻ دکتاب خلاف پریکړه کوی اوسرکښه سی نوالله تعالی به یې په خپل مینځ کې بیلوالی اواختلاف پیداکوی .

وروسته رسول الله ﷺ عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ته وویل چې زه نن یاصبا تاپه یوه مهم کارپسې لیږم ته تیارسه ! صباسهارچې کله لمونځ وسو نوعبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه یې راوغوښتی اوخپل مخ ته یې کښېنوی اوپه لاس مبارک یې لنګوټه(پګړی) دهغه پرسروتړله اودڅلوروګوتوپه اندازه شمله یې شاته ورپرېښوده اووې فرمایل اې دعوف زویه داسې پګړی تړه دا ډېره ښه ښکاریږی وروسته یې بلال رضی الله عنه ته وویل چې ته یو بیرغ

سیف لودين کتابتون

راوړه اوعبدالرحمن بن عوف ﷺ ته يې ورکړه وروسته رسول الله ﷺ دالله ﷻ حمداوثنااوپرخپل ځان باندی درود ووايو اوعبدالرحمن بن عوفﷺ ته يې وفرمايل ، داييرغ له ځان سره واخله اودالله ﷻپه لاره کې جهادوکړه کوموخلکوچی په الله ﷻ باندی کفرکړی دی له هغوئ سره وجنګيږه ، خيانت مه کوه ، دوکه مه کوه ، دچاپوزه اوغوږونه مه پريکوه ، ماشومان مه وژنه دادالله ژمنه ده اودهغه دنبی ﷺ طريقه ده

له اووه سوه ۷۰۰ ملګروﷺ سره يې دومة الجندل خواته وليږی اودايې ورته وويل چی که دوئ ستابلنه ومنله اواسلام يې قبول کي نودهغه ځای دمشرله لورسره په نکاح کې ځنډ مه کوه ،عبدالرحمن بن عوفﷺ روان سو کله چی هلته ورسيدی خلکوته يې داسلام بلنه ورکړه دري ورځی پرلپسی يې دوئ ته داسلام بلنه ورکوله دريمه ورځ ددومة الجندل مشر اصبغ بن عمرو اسلام قبول کی نوموړی مخکې عيسائي ووده په پيروی نوروډيروخلکوهم اسلام ومنی اودرسول الله ﷺ دوينابرابر دعبدالرحمن بن عوف ﷺ نکاح دهغه ځای دمشراصبغ له لور تُمَاضر سره وسوه عبدالرحمن ﷺ هغه له ځان سره مدينی منوری ته راوسته ابوسلمة بن عبدالرحمن ﷺ چی له لويوتابعينوڅخه دی اولوی حافظ دی دهغې له خيټی پيداسوی دی (۱)

دفدک سريه دهجرت شپږم کال دشعبان مياشت !

رسو ل الله ﷺ ته داخبرورسيدی چی بنی سعدبن بکردخيبرديهودودمرستی لپاره فدک ته نږدی لښکررايوځای کړی دی ، رسول الله ﷺ علیﷺ له سل تنه صحابه کرام ﷺ سره فدک ته وليږی په لاره کې دهغوئ يو سړی ګيرسو له ځيرنو اوتحقيقاتوڅخه وروسته دامعلومه سوه چی دفدک جاسوس دی ودته په امن ورکولوسره يې له هغه څخه پوښتنه وکړه هغه ددوئ ټولوسم معلومات اوځای وروښودی مسلمانانو دهغومعلوماتوبرابرهغه ځای ته ورسيدل اوپردوئ يې بريدوکي بنوسعدوتښتيدل مسلمانانوپنځه سوه اوښان اودوه زره پسونه اوبزی له ځان سره مدينی منوری ته راوستل اوراغلو (۲)

دام قرفه سريه دهجرت شپږم کال دروژی مبارکه مياشت !

ام قرفه ديوی ښځي لقب دی ددې اصل نوم فاطمه بنت ربيعه وه داښځه دبنوفزاره قبيلی مشره وه زيدبن حارثه ﷺ يوځل دتجارت لپاره مال اخيستی وو شام ته تلی کله چی په دی ځای کې تيريدی نودبنوفزاره خلکوپرده بريدوکي اوزيدﷺيې ټپی کي اوټول سامان يې ځنی واخيستی زيدﷺبيرته مدينی منوری ته راستون سو رسول الله ﷺ سمدستی ددوئ دمقابلې لپاره يولښکرتيارکی دزيدﷺ په مشری يې وليږی دوئ په کاميابی سره بيرته مدينی ته راغلو (۳)

(۱) زرقانی جلد۲ ص/۶۳، طبقات ابن سعدصفحه ۱۵)
(۲) زرقانی جلد۲ ص/۱۶۲)

سیف لودین کتابتون

دعبدالله بن عتیک رضی سریه دیهودی ابورافع بن حقیق دوژلولپاره

دابورافع یهودی دوژلوتفصیلی قصه دهجرت ددریم کال په پیښوکې یاده سوی ده زموږهدف دلته یوائې داوو چې دیوشمیرعلماء په نزد ابورافع دوژلوپیښه په کال دریم هجری کې سوی ده اودیوشمیرعلماء په نزدبیادهجرت په پنځم کال سوی ده اودیوشمیرنورو په نزدبیادهجرت په شپږم کال سوی ده دتفصیل لپاره وګوری (زرقانی ج ۲/ ص ۱۶۲)

دعبدالله بن رواحه رضی سریه دهجرت شپږم کال دکوچنی اختر میاشت!

دابورافع له وژلو وروسته یهودو اُسیربن رزآم خپل مشروټاکی هغه درسول الله ﷺ دمقابلې لپاره تیاری پیل کی اوعطفان قبیلهٔ اونوری قبیلې یې درسول الله په خلاف دجګړې لپاره راپورته کولې رسول الله ﷺ چې کله خبرسو نوعبدالله بن رواحه رضی یې له درې ملګروسره دپلټنې لپاره ولیږی عبدالله بن رواحه رضی راغی خبرېې راوړې چې خبره سمه ده رسول الله ﷺ عبدالله بن رواحه رضی له دیرش ملګروسره هغه ته ولیږی او ورته وې ویل چې هغه دلته راولی ددې لپاره چې له هغه سره مخامخ خبری وکړو اسیربن ارزام هم له دیرش ملګروسره مدینې ته را روان سو پریوه یوه اوښ باندی دوه دوه تنه سپاره وو یویهودی اویومسلمان ددوئ نیت بدل سو اسیربن رزام اوعبدالله بن انیس رضی پریوه اوښ وو آسیربن رزام دوه ځلې توره پورته کړه مګر عبدالله بن انیس رضی بیداره وو اودواړه ځله یې وبخښې اسیرچې کله دریم ځل داحرکت وکې نو ددواړوډلوترمینځ جګړه راپورته سوه ټول یهودیان ووژل سو په دوئ کې یوائې یوسړی پاته سو هغه وتښتیدی دالله ﷻ په ساتنه مسلمانان ټول روغ رمټ وو یوائې عبدالله بن انیس رضی ټپی سو کله چې صحابه کرام رضی مدینې ته راغلل نورسول الله ﷺ وفرمایل (قدنجاکم الله من القوم الظالمین) الله تعالی تاسوته دظالمانوڅخه خلاصون درکی . اودعبدالله بن انیس رضی په ټپ یې لاړې مبارکی وموښلې هغه سمدستی جوړسو اوپه مخ یې لاس ورکیښودی اودعایې ورته وکړه .

دکرز بن جابرفهری رضی سریه دعرنیین په لوری دهجرت شپږم کال کوچنی اختر

دعکل اوعُرَینه څه خلک ومدینې منورې ته راغلو اوپه ښکاره یې اسلام ومنی څو ورځې وروسته یې له رسول الله ﷺ څخه غوښتنه وکړه چې موږخوشپانه خلک یو تراوسه زموږ په شیدوباندی ګذاره ده دغلې عادت نه یو دمدینې اوبه زموږله بدن سره برابری نه دی که ته موږته له ښاره دباندی دزکواتو داوښانوساتلواودهغوشیدوڅښلواجازه راکړې ښه به وی ؟ رسول الله ﷺ ددوئ غوښتنه ومنله اوله ښاره دباندی یې دزکوة داوښانوپه وروشوکې داوسیدواجازه ورکړه اوهلته یې دشیدوخوړلواجازه هم ورکړه داوئ په ځوورو ځوکې جوړروغ اوقوی سو دوئ په همدې وخت کې له اسلام واوښتل اومرتدسواودرسول الله ﷺ ثاروان اوښبه یې شهیدکې اودهغه لاسونه اوپښې اوپوزه اوغوږونه پرېکړل اوپه سترګوکې یې اغزی ورښخ کړه او اوښان یې وتښتول

سیف لودین کتابتون

رسول اللهﷺ چې څنګه خبر سو سمدستي يې (۱) کرزبن جابر فهري رضی الله عنه له شلو تنو ملګرو سره ددوئ په لاندې کولو پسې ولیږی مسلمانان په دوئ پسې ورسیدل او ټول یې بندیان رسول اللهﷺ ته راوستل له دوئ څخه دقصاص او بدلې اخیستلو حکم وسو لکه څنګه چې دې خلکو ښاروان او ښه وژلي وو هغه رنګه دوئ ووژل سو پوزه ، غوږونه ، پښې ، او لاسونه ورڅخه غوڅ سو مګر د راتلونکي لپاره دا حکم وسو چې مجرم که هرڅومره سخت جرم کړی وی خو له هغه سره به داسې عمل نه کیږی او مخکې هم دا حکم وو چې دهرڅومره سخت دښمن مثله کول حرام دی نوځکه که کوم کافر یو مسلمان شهید کي او مثله یې کي نو د هغه په بدله کې به کافر وژل کیږی خو مثله کیږی به نه .

ابوسفیان عمرو بن امیه ضمري رضی الله عنه د رسول الله د شهادت لپاره مدینې ته ولیږی !

ابوسفیان بن حرب یوه ورځ دقریشو په یوه غونډه کې ناست وو او ویې ویل چې داسې څوک نسته چې ولاړسي او محمدﷺ قتل کړی ، ځکه پر هغه هیڅ پیره نسته ، محمدﷺ په عامو بازارو او کوڅو کې ګرزی ، یوه کوچي وویل زه په دې کار کې ډیر ماهریم که ته زما مرسته وکړی نو زه دا کار کولای سم ، ابوسفیان هغه ته یوه اوښه ورکړه او دلارې توښه یې ورکړه او د مرستې ژمنه یې ورسره وکړه هغه کوچي خپله نیزه راواخیسته او مدینې ته روان سو کله چې کوچي ورسیدی نو رسول اللهﷺ د بني عبدالاشهل په مسجد کې وو کله چې یې هغه کوچي ولیدی وې ویل دا سړی په یو فاسد نیت راروان دی ، اُسید بن حضیر رضی الله عنه ولاړ سو او هغه صحرایي یې ودروی کله چې په هغه کې تالاشي وسوه نو دده له لاسه نیزه ولویده اسید رضی الله عنه رسول اللهﷺ ته راوستی رسول اللهﷺ ورته وویل رښتیا وو وایه په کوم نیت راغلی یې ؟ صارایي وویل که ته ماته امن راکړی نو رښتیا به درته ووایم ، رسول اللهﷺ ورته وویل ماتاته امن درکړی دی ،صحرایي ټوله قصه ورته بیان کړه ، رسول اللهﷺ صحرایي پریښودی او وې بخښی صحرایي چې کله د رسول اللهﷺ مهرباني ولیده سمدستي مسلمان سو او دایې وویل (یامحمد والله ماکنت افرق الرجال فماهو الا ان رأيتک فذهب عقلي وضعفت نفسي ثم اطلعت على ما هممت به مما لم يعلم احد فعرفت انک ممنوع وانک على حق وان حزب ابي سفيان حزب الشيطان فجعل رسول الله صلى الله عليه وسلم يتبسم) ژباړه : اې محمدﷺ زه داسې څوک نه یم چې له چا وبیریږم مګر کله چې مې ته ولیدی نو حالت مې بل شان سو عقل مې ولاړی او زړه مې کمزوری سو او بل دا چې ته زما په نیت خبر سوی او سره له دې چې په دې هیڅوک هم نه وو خبر نو زه پوه سوم چې ته دالله ﷻ له لوری ساتل سوی او خوندی یې او رښتیا هم ته پرحق یې او دابوسفیان ډله د شیطان ډله ده ،رسول اللهﷺ چې داخبری واوریدی مسکی سو

(۱) دا دواقدي او ابن سعد او ابن حبان خبره ده او د امام بخاري (رح) په نزد دا سریه دحدیبیه ترسوله وروسته او دخیبر تر غزا مخکې سوې ده دتفصیل لپاره زرقاني جلد ۲ /ص/۱۷۳ وګورۍ)

سیف لودین کتابتون

هغه څوورځی د رسول اللهﷺ په خدمت کې اوسیدی او بیایې له رسول اللهﷺ څخه اجازه وغوښته او رخصت سو وروسته د هغه درک نه سو معلوم چې چیری ولاړی

څه وخت وروسته رسول اللهﷺ عمرو بن امیه ضمری او سلمة بن اکوع انصاری رضی الله عنه مکې ته ولیږل چې که موو خت پیدا کی نو ابوسفیان ووژنی ، کله چې دوئ دواړه مکې ته داخل سو نو دا نیت یې وکی چې کله مسجد حرام ته داخل سو نو لومړی به د بیت الله شریف طواف کوو په حرم کې له داخلیدو سره سم ابوسفیان دوئ ولیدل او ورته راغلی که ګوری یو عمرو بن امیه رضی الله عنه دی د فکر وکی چې دئ خامخا د یو ضروری کار لپاره راغلی دی ځکه د جاهلیت په وخت کې عمرو بن امیه ضمری رضی الله عنه په شیطان مشهور وو د مکې خلک له ده ډیر ویریدل د مکې خلکو په دې فکر چې عمرو بن امیه رضی الله عنه موږ ته څه زیان و نه رسوی له دې ویری یې د هغه لپاره څه پیسی جمع کی عمرو رضی الله عنه خپل ملګری ته وویل چې د ابوسفیان وژل خو اوس نه سی کیدای ښه داده چې موږ خپل ځانونه و باسو اوولاړ سو کله چې دوئ روان سو په لاره کې عبدالله بن مالک نیمی ووژی یو څه نور ولاړل د بنی الدیل قبیلې یو سړی په پروتی دا شعر وایو : وَلَسْتُ لِمُسْلِمٍ مَادُمْتُ حَيًّا .... وَلَسْتُ اَدِيْنُ دين المسلمينا

ژباړه : ترڅو چې زه ژوندی یم زه به هیڅکله مسلمان نه سم او نه به د مسلمانانو دین غوره کړم . عمرو رضی الله عنه (۱) شعر و یونکی باندی د غشی وار وکي چې په هغه سره د مشرک روغه ستر ګه د باندی راووته او وروسی یې د توری وار پر وکی او ځای پر ځای یې کي کله چې له د غه ځایه روان سو نو په لاره کې د قریشو دوه جاسوسان په مخه ورغلو هغه خلک قریشو د رسول اللهﷺ د حالاتو د معلومولو لپاره لیږلی وو له هغو څخه یې یو ووژی او بل یې بندی رسول اللهﷺ ته راوستی او ټوله قصه یې ورته بیان کړه رسول اللهﷺ د دې پیښی په اوریدو سره وخندل او عمرو رضی الله عنه ته یې د خیر دعا وکړه (زرقانی جلد ۲ / ص / ۱۷۷)

د حدیبیة سوله د هجرت شپږم کال د ذی القعدة یا میاني میاشت

حدیبیه دیوه کوهی نوم دی له دې کوهی سره یو کلی آباد دی چې هغه هم په همدې نامه مشهور دی دا کلی له مکې معظمې څخه نه ۹ میله لیری دی ، محب طبری فرمایې چې د حدیبیه ډیره برخه په حرم کې داخله ده او پاته برخه یې په حل کې ده ،

د حدیبیه تر سوله مخکې رسول اللهﷺ خوب ولیدی چې زه او زما څه ملګری رضی الله عنهم مکې مکرمې ته په امن داخل سو او عمره کوو یو شمیر صحابه وو رضی الله عنهم ویښتان کوچنی کړی او یو شمیر نورو بیا خریلی دی (رواه البیهقی فی الدلائل)

د دې خوب په اوریدو سره د صحابه کرام رضی الله عنهم په زړو کې چې د بیت الله شریف کومه مینه او محبت وو هغه راوخوټیدی او د بیت الله شریف د لیدو تمی ته ټول ناآرامه سو ،

(۱) په یو روایت کې راغلی دی چې عمرو رضی الله عنه پو ښتنه وکړه چې ته څوک یې هغه وویل زه د بنی بکر قبیلې څخه یم عمرو رضی الله عنه وویل ښه راغلی وروسته هغه سری پریوتی او دغه شعریې بیاپیل کې عمرو رضی الله عنه لومړی یو غشی د هغه پر روغه ستر ګه وویشتی

سیف لودین کتابتون

دهجرت شپږم کال دوشنبه دمیاشتی لومړی ورځ وه رسول الله ﷺ دعمری په نیت له مدینی منوری څخه مکی معظمی ته له پنځه لس سوه مهاجرو او انصارو ؓ سره روان سو (۱) کله چی دوئ ذوالخلیفة ته ورسیدل نو دقربانۍ څاروو ته یې زنګولی واچولی او دعمری احرام یې وتړی ، بُسربن سفیان ؓ یې دحالاتو دمعلومولو لپاره مخ ته ولیږی دمسلمانانو دجنګ نیت نه وو ځکه له دوئ سره هیڅ رنګه وسله او دجنګ سامان نه وو یوائې دومره وسله وه ورسره وه لکه یو مسافر چی یې له ځان سره وړی له دوئ سره یوائې توری وی او هغه هم په تیکی کې پټې وی (فتح الباری کتاب الشروط ، طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص /۶۹)

کله چی رسول الله ﷺ داسطاط کوهی ته ورسیدی نو بسربن سفیان ؓ راغلی او خبریې راوړی چی قریشو ستادراتګ په خبرید و سره لښکر راجمع کړی دی او ستاد مقابلی لپاره تیاری نیسی او داژمنه یې کړی ده چی تا ته دمکی دداخلیدو اجازه نه ورکوی ،

او بل داخبر وو چی خالدبن ولید دلښکر دمقدمة په ډول دوه سوه سپاره له ځان سره کړی دی او غمیم ځای ته رسیدلی دی ، رسول الله ﷺ ددې خبر په اورید و سره هغه لاره پریښوده او پربله لاره ولاړی او حدیبیه ته ورسیدی له دې ځایه چی کله رسول الله ﷺ خپل اوښه دمکی وخوا ته وګرزوله اوښه پریوته خلکو داوښی دولاړیدو لپاره حل حل وویل خو هرڅومره کوښښ یې چی یې وکی اوښه نه پورته کیده صحابه کرام ؓ وویل (خلات القصواءُ خلات القصواءُ) اوښه چوسه اوښه چوسه رسول الله ﷺ وفرمایل دا ددی عادت نه دی الله ﷻ دامنع کړی ده وروسته یې وفرمایل، قسم په هغه ذات چی دهغه په لاس کې زما روح دی قریش که لما څخه دیو داسی شئ غوښتنه وکړی چی په هغو کې دشعائرالله تعظیم کیږی زه به خامخا هغه منم ، کله چی رسول الله ﷺ داخبره وکړه اوښه سمدستی ولاړه سوه او له هغه ځایه روان سو او حدیبیه ته ورسیدل او همدلته میشت سو دګرمۍ موسم وو داوبو دلږوالی له کبله تنده ډیره وه په ژو کې اوبه تمامی سوی صحابه کرام ؓ رسول الله ﷺ ته عرض وکی یا رسول الله ﷺ اوبه تمامی سوی او تنده ډیره ده رسول الله ﷺ له خپلی کڅوړی یو غشی راوایستی چی داپه چینه کی کیږدی کله چی صحابه کرام ؓ هغه په چینه کې کیښودی نو اوبه راوخوټیدی او ټول لښکر په اوبه سو (۲)

---

(۱) په دې اړه روایتونه بیلابیل دی مشهور څوارلس سوه دی لکه چی په صحیحن کې له براء بن عازب ؓ څخه روایت سوی دی او په صحیحن کې له جابربن عبدالله ؓ څخه دپنځلس سوه روایت هم سوی دی دتفصیل لپاره ، زرقانی جلد ۲ /ص /۱۸۰ وګوری)

(۲) داحدیث دصحیح بخاری په ډیرو بابو کې ذکر سوی دی مګر ټوټی ټوټي پوره حدیث په کتاب الشروط فی ... ذکر سوی دی ، فتح الباری جلد ۵ /ص /۲۴۲، ۲۴۵)

سیف لودین کتابتون

په حدیبیه کې له میشتیدو وروسته رسول الله ﷺ خراش بن امیه خزاعی ؓ په اوښ باندې مکې ته ولیږی ورته وې ویل چې قریشوته ووایه چې موږ یوائحې دبیت الله دلید ولپاره راغلی یو دجنګ لپاره نه یوراغلی کله چې خراش ؓ مکې ته ورسیدی نوقریشوسمدستي دده اوښ حلال کی اونیت یې وکی چې هغه ووژني مګر دهغه یوشمیرخپلوانودته پناه ورکړه اودئ یې له مرګه وژغوری خراش ؓ بیرته راغلی اورسول الله ﷺ ته یې ټوله پیښه بیان کړه وروسته رسول الله ﷺ عمر ؓ ته پیغام ورکي اومکی ته یې دده دلیږلونیت وکي عمر ؓ معذرت وغوښتی اووې ویل یارسول الله ﷺ ته په دې خبرې چې دمکې خلک زماله لاسه څومره زوریدلی دی اوټول زمادښمنان دی اوپه مکه کې زمادقبیلې هیڅوک هم نسته چې ماته پناه راکړی نوکه ته عثمان غنی ؓ ولیږې ښه به وی ځکه دهغه په مکه کې خپلوان سته دته به پناه ورکړی رسول الله ﷺ هم همدارایه خوښه کړه اوعثمان غنی ؓ یې راوغوښتی اودااموریې ورته وکي چې ابوسفیان اودمکې نورومشرانوته زماپیغام ورسوه اوکوم مسلمانان چې په مکه کې دی اودخپل اسلام ښکاره والی نه سی کولای هغوئ ته دازیری ورکړه چې نورمه ویریږې نژدی ده چې الله تعالی به فتح راپه برخه کړی اوخپل دین به غالب اوښکاره کړی ، عثمان بن عفان ؓ دخپل ملګری ابان بن سعید په پناه کې مکې ته داخل سواودرسول الله ﷺ پیغام یې ورسوی اودمکې مسلمانانوته یې زیری ورکي ټولوقریشوپه یوه خوله داځواب ورکی چې سږکال رسول الله ﷺ مکې ته نسي داخلیدای ته که غواړې نویوائحې طواف کولای سی ، عثمان ؓ وفرمایل زه پرته له رسول الله ﷺ هیڅکله طواف نه کوم ، قریشوچې کله داخبره واوریده راپاڅیدو اوعثمان ؓ یې بندي کي عثمان ؓ هلته بندی سو اودلته په حدیبیه کې داخبرمشهورسوچې عثمان ؓ شهید سوی دی .

بَیعَةُ الرِّضوَان

رسول الله ﷺ ته چې کله داخبرورسیدی نوډیر غمجن سو اودایې وفرمایل چې ترڅوپورې زه له دوئ څخه بدله وانه خلم ترهغه وخت به له دې ځایه نه ځم

رسول الله ﷺ تریوه درخته لاندی ناست وو اوله صحابه کرام ؓ یې بیعت واخیستی بیعت پردې وسو چې ترڅوپوری زموږپه بدن کې ساه وی له کافرانوسره به جهادکوو مړه به سو خوتښتو به نه ،

بیعت پیل سو ترټولومخکې ابوسنان اسدی ؓ بیعت وکی په معجم طبرانی کې له عبدالله بن عمر ؓ څخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ چې کله خپل ملګری ؓ دبیعت لپاره راوغوښتل نوترټولومخکې ابوسنان ؓ درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ دبیعت لپاره لاس راکړه رسول الله ﷺ ورته وایې پرڅه شئ

سیف لودین کتابتون

ورته وایې ستا په زړه کې څه دي ؟ ابوسنان ﷛ وویل یارسول الله ﷺ زما په زړه کې دادي چې ترهغه وخته پورې به توره چلوم ترڅوپورې چې یا خو الله عزوجل ماته برې راکړي او یا هم په دې لاره کې شهید سم رسول الله ﷺ له ده سره بیعت وکې ورپسې ټولو صحابه کرام ﷡ بیعت وکې .

په صحیح مسلم کې راغلي دي چې سلمه بن اکوع ﷛ درې ځله بیعت وکې په پیل کې په مینځ کې او په پای کې .. رسول الله ﷺ چې کله له بیعت کولو خلاص سو نو چپه لاس یې پرراسته لاس کیښودی اودایې وفرمایل چې دا بیعت دعثمان ﷛ له لوري دي (رواه البخاري) راسته لاس د رسول الله ﷺ له طرفه وو او چپه لاس دعثمان ﷛ له طرفه وو عثمان ﷛ به دابیعت یادوی چې زما له طرفه د رسول الله ﷺ چپه لاس زماتر راسته لاس ډیر غوره وو (زرقاني جلد ۲ /ص /۲۰۶، ۲۰۸)

ودې بیعت ته بیعت الرضوان وایې او دهغه یادونه الله تعالی په سورة فتح کې کړې ده :

﴿لَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا﴾(۱۸) ﴿وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا وَكَانَ اللهُ عَزِيزًا حَكِيمًا﴾ (۱۹)سورة الفتح آیت)

ژباړه : یقیناً الله ﷻ راضي سو له مومنانو څخه کله چې دوئ ستا په لاس ترونه لاندې بیعت وکې ددوئ په زړوکې دالله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ کومه مینه او اخلاص چې پروت دی هغه الله تعالی ته ښه معلوم دی نو الله تعالی هم پر دوئ باندې خپل خاص سکون آرام او ډاډ نازل کې او په بدل کې نژدې فتح ورپه برخه کړه او له دې پرته نور غنیمتونه به هم واخلی او الله تعالی غالب او حاکم ذات دی ..

تر بیعت کولو وروسته دامعلومه سوه چې دعثمان ﷛ دشهادت خبر دروغ وو قریش چې کله په دې بیعت خبر سو نو وویریدل دسولې لپاره یې دلیک او پیغام سلسله پیل کړه (فتح الباري ۳۴۵) خزاعه قبیله که څه هم تراوسه لا په اسلام نه وو مشرف سوی مګر تل د رسول الله ﷺ خیرغوښتونکې او دوستان وو دمکې مشرکینو چې به کله د رسول الله ﷺ په خلاف فریبونه کول دوئ به هغه خبر رسول الله ﷺ ته رسوی ددې قبیلې مشر بدیل بن ورقاء دخزاعه قبیلې څو تنه له ځان سره ملګري کړل او د رسول الله ﷺ په خذمت کې حاضر سو دوئ و رسول الله ﷺ ته وویل چې قریشو دحدیبیه په شاوخوا سیمو کې داوبو پریوه لویه چینه ستاد مقابلې لپاره یو لوی لښکر راجمع کړی دی او تاته دمکې دداخلیدو اجازه نه درکوی ، او دشیدو درلودونکې اوښې له دوئ سره دي یعنې تر ډیره وخته دپاته کیدو نیت لري . او دمقابلې لپاره ټینګ ولاړ دي خوراکې توکي نور هم ورسره شته ، رسول الله ﷺ وویل موږ له هیچاسره دجنګ دپاره نه یو راغلی یوائې دعمرې دپاره راغلي یو ډیر وجګړو خو قریش کمزوري کړي دي که هغوئ غواړي نو زه به له دوئ سره دڅه وخت لپاره سوله وکړم په دغه وخت کې به یو پر بل برید نه کوی ، ما او نور عرب دې پریږدي که

سیف لودین کتابتون

دالله ﷻ په مرسته زه بريالي سوم نو که د دوئ خوښه وه په دې دين اسلام کې دې داخل سي او اوس دستي خوبه ديوځه وخت لپاره په آرام وي او که بالفرض عرب بريالي سي نو د قريشو هغه تمنى او ارزو به پوره سي ، مګر زه تا ته دا خبر در کوم چي الله تعالى به خامخا خپل دين بريالي کوي او د دې دين د ښکاره کيدو او غلبې او د بريالي توب او مرستي کومه ژمنه چي الله تعالى کړې ده هغه به هرو مرو پوره کيږي او که قريش دا خبره ونه مني نو قسم په هغه ذات چي زما ساه د هغه په لاس کې ده زه به خامخا له دوئ سره جهاد کوم ترڅو چي زما سر له بدنه بيل سي ، د خزاعه قبيلې مشر بديل له رسول الله ﷺ څخه ولاړی او قريشو ته يې وويل ما تاسو ته د دې سړي له خوا خبر راوړی دی که غواړی نو تاسو ته به يې وړاندې کړم يو شمير ناپوه او کم عقلانو ويل زمونږ هيڅ اړتيا ورته نسته مونږ د هغه هيڅ خبره اوريدل نه غواړو مګر په قريشو کې چي کوم پوه او هوښيار خلک وو هغوئ وويل هو بيان يې کړه راته وې وايه ،

بديل وويل تاسو ډير تلوار کونکي خلک ياست ، محمد صلى الله عليه وسلم د جګړې لپاره نه دی راغلی بلکې د عمرې دا دا کولو لپاره راغلی دی او غواړي لتاسو سره سوله وکړي قريشو وويل رښتيا هم هغه د جګړې لپاره نه دې راغلی مګر هغه مکې ته نسي داخليدای ،

عروه بن مسعود ولاړ سو وينا يې وکړه وې ويل اې قريشو آيا زه ستاسو د پلار په منزله نه يم او تاسو زما د پاره دا ولاد په منزله نه ياست خلکو وويل رښتيا هم دا سې ده ده ورته وويل آيا تاسو په ما باندې يو بدګمانی لرئ قريشو ورته وويل نه هيڅکله نه ،

عروه وويل د دې سړي يعنی (نبی کريم ﷺ) ستاسو دنيکې اوګټې خبره کړې ده زما په نظر دا خامخا ومنئ او ما ته اجازه راکړئ چي زه د محمد ﷺ په خدمت کې حاضر سم او په دې هکله خبرې ورسره وکړم دوئ ورسره خوښه کړه ، عروه د نبی کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو رسول کريم ﷺ هغه خبره ورته وکړه کومه چي يې بديل ته کړې وه عروه وويل اې محمد ﷺ تا به اوريدلي وي چي هر چا خپل قوم په خپله هلاک او برباد کړی وي نو د بريالي توب په پرته که بل صورت پيښ سي يعنی ناکامه سی نو پر دې خلک هغه يوا ځي پريږدي او تښتي ، ابوبکر صديق ﷺ د رسول کريم ﷺ شا ته ناست وو هغه عروه ته ځواب ورکې ورته وې ويل آيا مونږ به رسول الله ﷺ پريږدو او تښتو به ، عروه وويل دا سړی څوک دی ، صحابه کرام ﷺ وويل دا ابوبکر صديق ﷺ دی عروه وويل قسم په الله ﷻ که په ما باندې ستا احسان نه وای چي د هغه بدله تر اوسه مانده درکړې نو هرو مرو به مې ځواب درکړی وای دا خبره يې وکړه او له رسول الله ﷺ سره يې خبرې پيل کړې عروه چي به کله خبره کولی نو د رسول الله ﷺ ږيرې مبارکې ته به يې لاس وروړي مغيره بن شعبه ﷺ د عروه وراره د رسول الله ﷺ څنګ ته توره په لاس ولاړ وو د رسول الله ﷺ په هکله يې دا ونه زغمله سمدستي يې عروه ته وويل خپل لاس دې در لنډ کړه له مشرک سره دا مناسب نه ده چي هغه

سیف لودین کتابتون

دی رسول الله ﷺ مسه کړی ، دمغیره ؓ خول پرسروو او دجګړی جامی یې اغوستی وی ځکه عروه هغه ونه پیژندی او په غصه یې له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه دا بیا څوک دی رسول کریم ﷺ وفرمایل دا ستا وراره مغیره بن شعبه ؓ دی عروه چی کله هغه وپیژندی ورته وی ویل ای غداره آیا ما ستا دغداری او فتنه پورنه وو ورکړی ، مغیره ؓ تر اسلام مخکې له څو ملګرو سره دمصر پاچا مقوقس دربارته په یوه سفر تللی وو مقوقس پاچا دده وملګروته ښه انعامونه ورکړه او دته یې لږ شئ ورکړی مغیره ؓ په دې ډیر خفه سو دوئ په لاره کې یو ځای دمه وکړه او شراب یې وڅیښل ویده سو مغیره ؓ وخت پیداکي او دوئ ټول یې ووژل او ددوئ ټول انعامونه یې له ځان سره راواخیستل راغلی مدینی منوری ته درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضر سو او اسلام یې ومنی رسول الله ﷺ ورته وفرمایل اسلام خو قبول کړه مګر له مال سره زما هیڅ اړیکه نسته ځکه په چل او غداری سره اخیستل سوی دی عروه دمغیره ؓ دمړو پور ورکي او دده روغه جوړه یې وکړه ،،

دعروه سترګی په صحابه کرام ؓ کې دی چی دا څومره احترام او څومره په اخلاص داسی عجب او نالیدلی منظر ده هیڅکله نه وولیدلی دصحابه کرام ؓ داسی حالت وو چی کله به رسول الله ﷺ څه حکم وکي نو هریوه به دا غوښتل چی تر ټولو مخکې یې بایدزه پر ځای کړم او کله چی به رسول الله ﷺ لاړی توکی نو هرسړی به دا غوښتل چی تر ټولو مخکې چی هغه پر ځمکه ونه ولویږی هغه په لاس را اخلی او په خپل مخ باندی یې مښی او کله چی او دس کوی نو دهغه داوداسه په اوبو باندی هم دصحابه کرام ؓ دغه حالت وی نژدی وه چی په خپل مینځ کې جګړه وسی دهغه له بدن څخه یو ویښته هم ځمکی ته نه رسیږی سمدستی هغه راپورته کوی او کله چی رسول کریم ﷺ خبری کوی نو ټول ورته غوږوی داسی ښکاریږی لکه دوئ چی له سره ترپښو پوری غوږونه جوړ سوی دی دهیچا داتوان نسته چی پورته وګوری داسی معلومیږی چی دحال په ژبه عروه ته دده د بدګمانی ځواب ورکوی چی هغه په لومړی سرکې درسول الله ﷺ دخوږو ملګرو ؓ په اړه ویلی وو ، چی که قریش بریالی سو نو همدا خلک به تا یوائې پریږدی او وبه تښتی همدا اخلاص او محبت او مینه او حیرانونکي عظمت لیدنه دصحابه کرام ؓ له لوری پوره دقناعت وړ ځواب وو چی ددوئ دعشق مینی او محبت او عقیده داحالت وی دوئ به څنګه رسول کریم ﷺ یوائې پریږدی او وبه تښتی نه هیڅ کله داسی نه ده عروه ستا فکر ډیر غلط دی ..

عروه چی کله درسول الله ﷺ له خوا ولاړی نو قریشو ته یې وویل ، ای قوم قسم په الله ﷻ ما دقیصر او کسری او نجاشی پاچا دربارونه لیدلی مګر قسم په الله ﷻ دمینی او اخلاص او عزت داعجیبه او نالیدلی منظرمی هیڅکله نه دی لیدلی .

دامنظرنه تررسول الله ﷺ مخکې لیدل سوی دی او نه به ترهغه وروسته ولیدل سی رسول کریم ﷺ خاتم الانبیاء دی مینه ، عشق ، اخلاص ، محبت درناوی ، احترام او حیراونکي منظرونه هم رسول الله ﷺ پای ته رسیدلی دی ،

سیف لودین کتابتون

په یو روایت کې راځي چې عروه وویل ، اې قوم : ما ډیر پاچهان لیدلي دي مګر د محمد ﷺ په څیر مې هیڅوک نه دی لیدلی خو هغه پاچانه معلومیږي (رواه ابن شیبة مرسلا (زرقاني جلد ۲/ص/ ۱۹۲)
عروه خو قریشو ته په ښکاره ونه ویل چې دا نبی ﷺ دی مګر اشارتاً یې وویل چې دا شان د پاچهانو نه دی بلکې د الله ﷻ د پیغمبرانو وي .

د عروه د اخبری چې کله حُلیس بن علقمة کناني واوریدی ده غوښتنه وکړه چې ماته اجازه راکړې چې له رسول الله ﷺ صلی الله علیه وسلم سره ووینم ،

حُلیس بن علقمة راغلی ، رسول کریم ﷺ چې کله ولیدی نو صحابه کرام ؓ ته یې وویل د قرباني څاروي او حیوانات د دې سړي په مخکې ودروي ځکه دا سړی له هغه قبیلې څخه دی چې د قرباني د څارو درناوی کوي ، حُلیس چې کله د قرباني اوښان ولاړ ولیدل له لارې بیرته وګرزیدی او قریشو ته یې وویل زما دې د کعبې په رب قسم وي دا خلک یوائې د عمرې لپاره راغلي دي دا خلک خو له بیت الله شریف هیڅ وخت نه سي منع کیدای
قریشو حُلیس ته وویل ته خو یو زنګلی سړی یې په دې خبرو نه پوهیږې ، حُلیس په غصه سو اووې ویل اې قریشو قسم په الله ﷻ که موږ لتاسو سره دا ژمنه او لوظ کړی وي چې څوک د بیت الله شریف د طواف لپاره راځي هغه دې له بیت الله شریف څخه منع کیږي قسم دی په هغه ذات چې د هغه په لاس کې زما ساده که تاسو محمد ﷺ د بیت الله له زیارت وګرزوی نو زه به ټول حبشیان له ځان سره کړم او لتاسو به بیل سم ؟
قریشو ویل ته یو ځل کښینه خفه کیږه مه موږ لږ فکر کوو ،

د قریشو په غونډه کې مکرز بن حفص ولاړ سو اووې ویل زه خپله ځم او له رسول الله ﷺ سره خبرې کوم رسول کریم ﷺ چې کله مکرز ولیدی وې فرمایل دا بد سړی دی ځکه د حدیبیه د میشتید و په وخت کې مکرز یو ځل پنځوس تنه له ځان سره ملګر کړي وو او د شپې یې پر مسلمانانو د برید نیت وکړ مګر صحابه کرام ؓ هغه ونیول او مکرز وتښتیدی د رسول الله ﷺ اشاره و هغه خبرې ته وه مکرز راغلی او له رسول الله ﷺ سره یې خبرې پیل کړې په همدې خبرو کې د قریشو له لورې سهیل بن عمرو د سولې لپاره راغلي رسول الله ﷺ چې کله سهیل ولیدی نو خپلو خوږ ملګرو ؓ ته یې وفرمایل : قَدْ سَهُلَ لَكُمْ أَمْرُكُمْ ژباړه : په تحقیق سره ستاسو کار څه اسانه سو (۱) وروسته یې وفرمایل چې قریش اوس سولې ته راغلي دي دا سړی یې د سولې لپاره رالیږلی دی سهیل د رسول کریم ﷺ په مخکې کینستی او تر ډیروه وخته د سولې پر شرائطو باندې خبرې وسوې کله چې د سولې شرائط پوره سو نو رسول الله ﷺ علي ؓ ته د پریکړه لیک په لیکلو امر وکي اوورته وې فرمایل چې داسې ولیکه :

---

(۱) یعنی پوره آسانه خو نه سو مګر څه آساني راغله دا د من تبعضیه معنی ده چې په قد سهل لکم من امرکم کې لفظ د من دی رسول کریم ﷺ به نیک فال خوښوی ځکه د سهل په راتلو سره یې ښه فال واخیستی او د سهیل په راتګ یې د سهولت په اړه ښه فال کړی مګر د سهیل لفظ د سهل تصغیر دی چې هغه په لږوالي او کموالي دلالت کوي ځکه په نیک فالي کې من تبعضیه زیاته سوه د دې لپاره چې اصل ماخذ او نیک فال دواړه په لږوالي کې سره شریک شي ، زرقاني جلد ۲/ص/ ۱۹۴)

(هذا ما قاضى عليه محمد رسول الله ﷺ) دا هغه پريکړه ده چې محمد ﷺ دالله رسول کړی ده سهيل وويل که موږ ته دالله ﷻ رسول ﷺ منلی نوبيا موله بيت الله شريف نه ګرزولی او نه به مولتاسره جنګ جګړی کولی د محمد رسول الله پرځای محمد بن عبد الله ﷺ وليکه رسول الله ﷺ وفرمايل قسم په الله ﷻ خوږه دالله ﷻ رسول ﷺ يم که څه هم تاسو مادروغجن بولی او علی ﷺ ته يې وويل دالفظ وران کړه دهغوئ دغوښتنی برابر زمانوم وليکه علی کرم الله وجهه وويل يارسول الله ﷺ زه هيڅکله ستانوم نه سم ورانولای ، رسول کريم ﷺ ورته وويل ښه هغه ځای ماته راوښيه چيری چی تا دغه لفظ ليکلی دی زه به يې وران کړم علی ﷺ په ګوته وروښودی رسول کريم ﷺ درسول الله ﷺ لفظ په خپل لاس وران کي او علی کرم الله وجهه ته يې د محمد بن عبد الله دليکلو امروکي ، (۱)

دسولی شرائط په لاندی ډول کيښودل سو

(۱) ترلس کالو پوری به په خپل مينځ کې جګړه بنده وی

(۲) دويم دقريشو څخه چی کوم سړی پرته له خپلو خپلوانو او مريئ پرته د مالک له اجازی مدينی منوری ته ولاړسی هغه به بيرته ورسپارل کيږی که څه هم مسلمان وی

(۳) کوم سړی چی له مسلمانانو څخه راوتښتی او له مدينی منوری څخه مکی ته راسی نو هغه به بيرته نه سپارل کيږی

(۴) په دې وخت کې به يو پربل باندی توره نه پورته کوی او نه به څوک له چاسره خيانت کوی

(۵) محمد ﷺ به سږکال پرته له عمری بيرته مدينی منوری ته ستنيږی مکی ته به نه داخليږی او په راتلونکی کال به يوائی دری ورځي په مکه کې پاته کيږی او له عمری وروسته به بيرته ځي او له توروپرته به بل هيڅ وسله نه وی ورسره او توری به هم په پوښو کې وی

(۶) دقبائلو خپل خوښه ده که څوک غواړی په سوله کې دی ديوه لوری شريک سی او که نه غواړی دوئ آزاد دی ، له قبائلو څخه بنوخزاعه قبيله درسول الله په عهد کې شريک سوه او بنوبکر قبيله دقريشو په عهد کې شريکه سوه بنوخزاعه درسول الله ﷺ دوستان او هم عهده سوا و بنوبکر دقريشو حليفان او هم عهده سو .

دسولی دپريکړی ليکل لاروان وو چی دسهيل زوی ابوجندل ﷺ په پښوکې ولچک اوزولنی بندی وی له مکی راتښتيدلی وو او درسول کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو دئ مخکې لا په اسلام مشرف سوی وو او دمکی مشرکينو دته رنګارنګ تکليفونه رسولی وو

(۱) په يو شمير رواياتو کې راغلی دی فکتب رسول الله ﷺ لفظ راغلی دی مګر هغه پراسنادی مجازی باندی حمل دی يعنی دليکلو امريې وکي لکه چی کتب الی قيصرو کسری کې مجازی اسناد دی ځکه دقرآن له آياتو او متواترا حاديثو څخه داثابته ده چی نبی کريم ﷺ أمی دی او په دې پيښه کې دعلی ﷺ په لاس دلوظنامی ليکل په مشهورو احاديثو ثابت دی وقد قال قائلهم فی

سیف لودین کتابتون

سهيل ووېل دالومړنی سړی دی چې دڅمنی برابر بايد بيرته موږ ته وسپارل سی رسول کريم ﷺ وفرمايل تراوسه خولاليک نه دی بشپړ سوی يعنې ترليکلو ولاسليک وروسته به په هغې باندی عمل پيل کيږی ، رسول الله ﷺ بيابيا سهيل ته ووېل چې ابوجندل ؓ دې موږ ته وسپارل سی مگر سهيل پردې خبره ډېر ټينګ ودريدی وې نه منله ، رسول کريم ﷺ ابوجندل ؓ بيرته سهيل ته وسپاری

دمکی مشرکينو ابوجندل ؓ ته رنګارنګ تکليفونه ورکړی وو څکه ابوجندل ؓ په ډيرافسوس مسلمانانو ته ووېل افسوس اې مسلمانانو زه کافرانو ته بيرته سپارل کيږم ، رسول کريم ﷺ چې کله داخبره واوريده ابوجندل ؓ ته يې تسلی ورکړه او ورته وز فرمايل (ياأباجندل اصبر واحتسب فانا لانغدروا ان الله عزوجل جاعل لک فرجا ومخرجا) ژباړه : اې ابوجندل ؓ صبر کوه او له الله ﷻ څخه مه ناهيلی کيږه موږ دڅمنی مخالفت نه کوو او رښتيا هم ژر ده چې الله تعالی به ستا لپاره دخلاصون لاره پيدا کي

مګر پرتولو مسلمانانو دهغه سپارل ډېر ګران تمام سو دعمرفاروق ؓ زغم پای ته ورسيدی او رسول الله ﷺ ته يې ووېل يارسول الله ﷺ آيا ته پرحق نه يې ، رسول کريم ﷺ وفرمايل ولی نه ، عمرفاروق ؓ ووېل آيا موږ پرحق او دوئ برباطل نه دی ؟ نبی کريم ﷺ وفرمايل بيشکه همداسی ده ، عمرفاروق ؓ ووېل بيانو ولی دا ذلت اوماته پرځان وړو ؟ نبی کريم ﷺ وفرمايل زه دالله ﷻ رښتينی رسول ﷺ اونبی ﷺ يم دهغه دحکم مخالفت نه سم کولای اوهغه زما مرستندوئ دی عمرفاروق ؓ ووېل يارسول الله ﷺ آياتا نه وويلی چې موږ به دبيت الله شريف طواف کوو ؟ رسول کريم ﷺ وفرمايل ماداهيڅکله نه وويلی چې سږکال به طواف کوو ،

عمرفاروق ؓ په همدی حالت کې ابوبکرصديق ؓ ته راغلی اوهغه خبری يې ورته وکړی کومې چې يې رسول الله ﷺ ته کړی ابوبکرصديق رضی الله تعالی عنه ټکی په ټکی هغه ځواب ورکي کوم چې رسول کريم ﷺ ورکړی وو ،

عمرفاروق ؓ وايې چې زه وروسته په دې بی ادبی ډېرپښيمانه سوم اوددې په بدله کې مې ډېرلمنځونه وکړل اوروژی مې ونيولی اوخيراتونه مې وکړه اوډېرمريان مې آزاد کړل ،

په صحيح مسلم کې له انس ؓ څخه روايت دی چې صحابه کرام ؓ غوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ په دې شرطو باندی څنګه سوله وکړو چې له موږ څخه څوک ددوئ خواته ولاړسی هغه به موږ ته نه سپارل کيږی ؟ رسول کريم ﷺ وفرمايل هوکوم سړی چې له موږ څخه ولاړسی موږ هغه ته هيڅ اړتيانه لرو الله تعالی هغه له خپل رحمت ليری وغورزوی اوددوئ له لوری که څوک مسلمان سی اوموږ ته راسی نو که څه هم دڅمنی

سيف لودين كتابتون

برابر به هغه بیرته سپارل کیږي مګر دویری خبره نده الله تعالی به نږدې ددوئ دخلاصون لپاره لاره پیدا کړي (الله ﷻ په زړهاو ملیاره واره حمد وي چې هیڅ داسې پیښه نه وسوه چې یو مسلمان دې له مدینې منورې څخه تښتیدلی وي او مکې ته دې پناه وړې وي)
لنډه داچې پردې شرطو باندې سوله وسوه او له دواړو لوړو لاسلیکونه وسو (١)
دسولې له پوره کیدو وروسته رسول کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ ته دقربانۍ کولو، اوسرخریلو امر وکړ، صحابه کرام ﷺ دسولې دشرطو په منلو دومره غمجن او زړه ماتي وو چې رسول کریم ﷺ درې ځله امر ورته وکړ مګر هیڅوک هم ولاړ نه سو کله چې رسول کریم ﷺ داحالت ولیدی نو ډیر خفه سو راغلی دام سلمة ﷺ خیمې ته اودشکایت په ډول یې داپیښه ورته بیان کړه ام المؤمنین ام سلمه رضی الله تعالی عنها وویل، یارسول الله ﷺ داسوله پر مسلمانانو ډیره ګرانه تمامه سوې ده او له دې کبله یې زړونه مات سوي دي ځکه ستاحکم عملي نه سو ته هیڅ هم مه وایه دباندې ووزه اوخپله قرباني وکړه اوسرو خریه دوئ به هرومرو ستاپیروي کوي، رسول کریم ﷺ هم همداسې عمل وکړ کله چې صحابه کرام ﷺ رسول کریم ﷺ ولیدی دوئ هم ټولو قرباني حلالول پیل کړه،
الله تعالی دې ام المؤمنین ام سلمه ﷺ ته ښه بدله ورکړي چې دهغې په مشوره داستونزه حل سوه اودنبي اکرم ﷺ له زړه څخه یې داغم پورته کړ لکه څنګه چې دشعیب ﷺ دلور مشوره دموسی ﷺ په اړه ډیره ګټوره وه دغه رنګه دام المؤمنین ام سلمه ﷺ دامشوره ډیره ګټوره اودخیر اوبرکت سبب سوه
داټولې پیښې اوقصې موږ دبخاري اوفتح الباري څخه رااخیستې دي چې هغه الحمدلله ډیر دباور وړ اومستندې دي داوږدوالي له کبله مو دروایاتو حواله پرېښوده څنګه چې داټولې پیښې په یوه باب کې یادې سوې دي ځکه مو یوازې دفتح الباري حواله کافي وګڼله که مو تفصیل په کار وي نو فتح الباري جلد ٥ کتاب الشروط له صفحه ۲۴۵ بیا تر صفحه ۲۵۶ پورې وګورئ.
داټولې پیښې له زیادت سره په زرقاني شرح مواهب کې هم راغلې دي مګر دهغو ترتیب دفتح الباري له ترتیب بیل دي موږ ددې پیښو اوړل دفتح الباري دترتیب برابر کړي دي ځکه مو دفتح الباري حواله ورکړې ده
رسول کریم ﷺ دوې اوونۍ هلته پاته سو دوې اوونۍ وروسته دوئ بیرته ستانه سول کله چې دمکې مکرمې اومدینې منورې مینځ ته ورسیدل نو سورة فتح نازل سو (اِنَّافَتَحۡنَالَکَ فَتۡحًامُّبِیۡنًا) الی اخر السورة

(١) دمسلمانانو څخه ابوبکر بن ابی قحافه ﷺ اوعمر بن الخطاب ﷺ، عثمان بن عفان ﷺ علي بن ابی طالب کاتب ﷺ عبدالرحمن بن عوف ﷺ سعد بن ابی وقاص ﷺ ابوعبیدة بن الجراح ﷺ محمد بن مسلمة ﷺ ددې مبارکانو لاسلیکونه وسو اوله مشرکینو څخه دیرو لاسلیکونه وکړل دهغوئ یو شمیر دادی، حویطب بن عبدالعزی، مکرز بن حفص، اونور. دپریکړه لیک ... نسخه له سهیل بن عمرو ته ورکړه (طبقات ابن سعد جلد ٢ /ص/ ٧١)

سیف لودین کتابتون

په لاره کې رسول کریم ﷺ ټول صحابه کرام ؓ رایوځای کړل اوانافتحنالک فتحامبینا سورة یې ورته ولوستی صحابه کرام ؓ خوداسوله خپل ماته ګڼله اوهغې ته الله ﷻ ښکاره فتحه اوبریالیتوب وویل ددې خبرپه اوریدوسره صحابه کرام ؓ دتعجب په ډول له رسول کریم ﷺ پوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ آیادافتح ده ، رسول کریم ﷺ وفرمایل قسم په هغه ذات چې دهغه په لاس کې زماروح دی رښتیاهم دافتح ده اوډیره لویه فتح ده (رواه احمداوابوداؤد والحاکم)

امام زهری فرمایې : چې دحدیبیه سوله داسې لوی بریالیتوب وو چې تردې مخکې هیڅکله داسې بریالیتوب دمسلمانانونه ووپه برخه سوی ځکه خپل منځی جګړې پای ته ورسیدې اوله یوه اوبل سره اړیکې ټینګې سوې اوامن راغلی اوکومو خلکوچې اسلام نه سوښکاره کولای هغوی په ډاګه اسلام ښکاره کې اسلامی احکام پرځای سو په خپل منځ نفرت اولیرې والی لیرې سو دخبروخت پیداسو په اسلامی مسائلواواحکاموخبرې اومناظرې پیل سوې خلکوقرآن کریم واوریدی دې سولې دااثروکې چې دحدیبیه ترسوله وروسته بیادمکې ترفتح پورې دومره ډیر خلک په اسلام مشرف سو چې د اسلام له پیل بیاتردغه وخته نه وو دومره خلک مسلمانان سوی (۱) ځکه اسلام خودښوخویونواوښوعملوکان اوچینه وه اودټولوښیګڼویوه مجموعه وه اوبل داچې صحابه کرام ؓ هم دښوخویواواخلاقویوه نمونه اوژوندی تصویروو ترسوله مخکې دکین اونفرت اوبغض اودښمنۍ سترګې دهغودلیدلومانع وې

دسولې له کبله دکین اونفرت پردې له سترګوپورته سوې داسلام زړه راکښونکی تصویرخلک ځان ته راواړول

ترسوله مخکې دمکې مشرکین د(ولکن لایشعرون) مصداق وو ځکه داسلام اومسلمانانورڼادوئ نه لیده دسولې په وجه چې کله دښمنې اونفرت له زړولیرې سو نواوس دوئ شعور خاوندان سو اودرښتینیو خلکودتندی رڼایې ولیده .

رسول کریم ﷺ چې کله مدینې منورې ته ورسیدی ابوبصیر ؓ دقریشوله بنده راتښتیدلی مدینې منورې ته راورسیدی قریشوهم سمدستې دوه تنه دهغه د سپارلولپاره ورپسې راولیږل ، رسول کریم ﷺ دژمنې له امله ابوبصیر ؓ دوئ ته وسپارئ اوابوبصیر ؓ ته یې وفرمایل چې زه دخپلې وعدې مخالفت نه سم کولای ښه به داوي چې ته له دوئ سره ولاړسې ابوبصیر ؓ وویل یارسول الله ﷺ ته ماوکافرانوته سپارې دوئ ماله دین اړول غواړې اورنګارنګ تکلیفونه یې راکړې دی اوله ماسره یې ډیر ظلم کړې دی ؟ رسول کریم ﷺ ورته وفرمایل له الله تعالی څخه امیدساته نژدې ده چې الله تعالی به ستادخلاصون لاره پیداکې

(۱) فتح الباری جلد ۲ /ص/ ۲۵۶، زرقانی جلد ۲ /ص/ ۲۱۰)

سیف لودین کتابتون

دقریشو استازو ابوبصیرله ځان سره ملګری کې اودمکې پرلورروان سو کله چې ذوالحلیفه ته ورسیدل نوددمه کولو لپاره کېښتل کومې خورماوې چې ورسره وې هغه یې وخوړې ابوبصیر رضی الله عنه په دوئ کې یوه ته وویل چې ستا توره ماته ډیره ښه معلومېږي هغه قریشي توره له تیکي وایسته او وې یل هو قسم په الله جل جلاله دا ډیره غوره او ښه توره ده ډیرځأیونه ماازمویلې ده ابوبصیر رضی الله عنه وویل ته راوړه چې زه یې سمه وګورم هغه سړی هم توره ورکړه ابوبصیر رضی الله عنه سمدستي پرهغه دتورې واروکې چې په دې وارسره خودهغه ژوند پای ته ورسیدی او بل ملګری چې یې کله داپیښه ولیده نوسمدستي له هغه ځایه وتښتیدی اوسیده مدینې منورې ته ولاړی کله چې مدینې منورې ته ورسیدی نود رسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوپه ویریدلې حالت کې یې وویل یارسول الله ﷺ زمابل ملګری خووژل سو اوس زه هم وژل کیږم ترده وروسته ابوبصیر رضی الله عنه هم درسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ تاخوزه ودوئ ته وسپارلم اوماته الله تعالی له دوئ خلاصون راکي اوته په دې ښه خبریې چې که زه مکې ته بیرته ولاړسم نوداخلک ماله دین په اوښتلوباندې مجبوره کوي داکار مې ځکه وکړ چې زمااوددوئ په مینځ کې څه ژمنه نسته ؟ رسول کریم ﷺ وفرمایل ډیر جګړه مار سړی یې که دې څوک ملګری سي ، ابوبصیر رضی الله عنه پوه سو چې که زه دلته پاته سم نورسول الله ﷺ مې بیرته ورسپاري ځکه له مدینې ووتی اودسیندغاړې ساحل ته ولاړی هلته میشت سو په هغه ځای کې چې دقریشوتجارتي قافلې به له شام راتلې پرهمدې لاره باندې به تیریدې دمکې کمزوري اوناوسه مسلمانان چې کله په دې خبرسو نوپټ پټ به دابوبصیر رضی الله عنه وخواته راتلل دسهیل بن عمروزوی ابوجندل رضی الله عنه هم هلته ورسیدی په همدې ترتیب سره اویا ۷۰ تنه یوه ډله جوړه سوه (۱) دقریشو کومه قافله چې به پردغه لارتیریدله پرهغوئ به یې برید کوي اوکوم دغنیمت مال چې به ددوئ لاس ته ورتلې په هغه به یې ګذاره کوله قریش له دې ټولګۍ ډیرتنګ سو آخرودې ته اړسو درسول الله ﷺ وخذمت ته یې یوسړی ولیږی چې موږتاته دالله جل جلاله اودخپلوي واسطه وړاندې کوو چې ته ابوبصیر رضی الله عنه اودهغه ملګری ومدینې ته راوغواړه اوکوم سړی چې زموږله لوري تاسوته پناه دروړي موږهغه نه غواړو ، رسول کریم ﷺ سمدستي یولیک ابوبصیر رضی الله عنه ته ولیږی کله چې درسول کریم ﷺ لیک وابوبصیر رضی الله عنه ته ورسیدی په دغه وخت کې ابوبصیر رضی الله عنه له دنیاڅخه دکوچیدو په حالت کې وودرسول کریم ﷺ لیک ابوبصیر رضی الله عنه ته ورکړل سو ده لوستی اوخوشالي دئ به ده لیک لوستی په همدې حالت کې یې روح الله جل جلاله ته وسپاری اودرسول کریم ﷺ لیک دده پرسینه پروت وو (کمارواه السهیلی ، جلد ۲ / ص / ۲۳۳)

(۱) علامه سهیلي وایي چې ددرې سوه تننه مجاهدینو یوټولګۍ جوړسو لکه چې دزهري اوموسی بن عقبه څخه روایت سوی دی ، زرقاني جلد ۲ / ص / ۲۰۳)

سیف لودین کتابتون

اوپه یوه روایت کې راغلي دي چې لیک یې په لاس کې وو کماذکره الحافظ فی الفتن)
ابوجندل بن سهیل ؓ دابوبصیر ؓ دکفن تیاری وکي اوپه هغه ځای کې یې ښخ کي اووځنګ ته یې یو مسجد جوړکي وروسته ابوجندل ؓ له خپلوټولوملګروسره مدینې منورې ته ولاړی.

سهیل بن عمرو چې کله دهغه سړی له وژل کیدوخبرسو کوم چې ابوبصیر ؓ وژلی وو هغه سړی دسهیل له قبیلې څخه وو سهیل وغوښتل چې له رسول الله ﷺ څخه دمړی دپورغوښتنه و کړی ابوسفیان ورته وویل لیونیه دمحمد ﷺ څخه دهغه دپورغوښتنه نه سي کیدای ځکه هغه خپله ژمنه پوره کړه اوابوبصیر ؓ یې ستاسو قاصدته وسپاري اوابوبصیر ؓ خودهغه په امرداسړی نه دی وژلی بلکې په خپله یې وژلی دی دهغه دپورغوښتنه دابوبصیر ؓ له کورنۍ اوقبیلې څخه هم نه سي کیدای ځکه ابوبصیر ؓ ددوئ په دین نه دی داخل (فتح الباری کتاب الشروط)

له سولې وروسته به چې کوم مسلمان سړی له مکې څخه راوتښتیدی اومدینې ته به راغلی رسول الله ﷺ به دژمنی له امله هغه بیرته دوئ ته ورسپاري څه وخت وروسته څه مسلمانانوښځوهجرت وکي اوله مکې څخه مدینې منورې ته راغلې دمکې خلکودپریکړی له امله دهغوئ دسپارلوغوښتنه و کړه مګر الله تعالی دوحی له لاری دښځو سپارل منع کړه اودایې په ځرګنده ډول وویل چې دسپارلوشرط خوترنارینه ووپورې خاص وو ښځې په دې شرط کې نه دی داخلې لکه چې په یوشمیررواياتو کې دالفظ دی (لایأتیه رجل) رسول کریم ﷺ ته به کوم نارینه نه راتلې مګرکله چې به راغلې نو رسول الله ﷺ به بیرته ورسپاری اوښکاره خبره ده چې رجلٌ دلفظ معنی ده نارینه ده دالفظ ښځوته څنګه شاملیدای سي دمکې مشرکینوغوښتل چې ښځې هم په دې کې شاملې کړی مګرالله تعالی منع وکړه اوپه ځانګړی ډول یې په دې اړه آیتونه نازل کړه (

﴿یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ اللّٰهُ أَعْلَمُ بِإِیمَانِهِنَّ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ لَهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ وَآتُوهُمْ مَا أَنْفَقُوا وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَلَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَاسْأَلُوا مَا أَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْأَلُوا مَا أَنْفَقُوا ذَٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ (۱۰) ﴿وَإِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ إِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَآتُوا الَّذِينَ ذَهَبَتْ أَزْوَاجُهُمْ مِثْلَ مَا أَنْفَقُوا وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِي أَنْتُمْ بِهِ مُؤْمِنُونَ﴾ (۱۱) (سورة الممتحنة)

ژباړه: اې مؤمنانو کله چې مسلمانانې ښځې تاسوته راسي نودهغوئ ازموینه کوی چې دخه لپاره یې هجرت کړی دی نوکه ترازموینې وروسته تاسوته دامعلومه سي چې داریښتیاهم مؤمنانې دی نوبیادوئ کافرانوته مه سپاری داښځې دهغوکافرانولپاره نه دی روا اونه هغه کافران ددوئ لپار روادی اوو هغو کافرانو ته ددوئ مصرف اوخرچه ورکوی کومه چې دوئ په کړی ده اوبیا تاسو هیڅ ملامتیانسته چې ودې مهاجرو ښځوته په

سيف لودين كتابتون

ولو رور کولو سره نکاح وکړي او اوړ مسلمانانو تاسو د کافرانو ښځو سره اړيکې مه ساتئ او له کافرانو هغه څه وغواړئ کوم چې تاسو مصرف کړي دي او دوئ دې وغواړي هغه چې دوئ مصرف کړي دي دا د الله ﷻ امر دی چې ستاسو په مينځ پريکړه کوي او که ستاسو له ښځو څخه کومه ښځه د کافرانو لوري ته ولاړه سي بيا به ستاسو وار راځي نو د چا ښځې چې له لاسه وتلې دي څومره مهر چې هغوئ په خپلو ښځو ورکړی وو د هغه په اندازه دې ورکړي او ويريږئ له هغه الله ﷻ چې تاسو ايمان په راوړی دی ...

د دې آيت تر نازليدو وروسته کافران هم غلي سو او بيا يې د ښځو د سپارلو غوښتنه نه وکړه.

د حديبيه د سولې فايدې او رازونه او مسئلې او حکمونه !

(۱) لومړۍ مسئله : د مسلمانانو پاچا او د ديندار ه مسلمان که له کافرانو سره په سوله کولو کې د مسلمانانو ګټې ويني نو سوله کول روا دی داسې سوله هم معنیً جهاد دی ځکه هدف له جهاد د کفر او کافرانو د شر مخنيوی دی نو که هغه په سوله سره حاصل سي الله روا ده الله تعالی فرمايي ﴿وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ (۶۱) آيت سورة الانفال) ژباړه : که کافران د سولې وخواته مائيل سي نو ته هم د سولې خواته ميلان کوه مګر باور او تکيه يوازې په الله ﷻ کوه يعنې په سوله باندې باور او تکيه مه کوه ، (۱)

(۲) دويمه مسئله : که په سوله کې د اسلام او مسلمانانو ګټې نه وي نو سوله کول نه دي روا ځکه داسې سوله د مسلمانو د سپک والي او د جهاد د پريښودو لامل ګرزي ، الله تعالی فرمايي ﴿فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ وَاللهُ مَعَكُمْ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ﴾ (۳۵ سورة محمد) ژباړه : او تاسو سستي مه کوئ او د سولې وخواته يې رابولئ او تاسو به زورويا ست او الله تعالی ستاسو سره دی ..

يعنې پر جهاد باندې له توان در لودلو سره سره له کافرانو سره سوله کول روا نه دی او د سوله معنی ده د جنګ پريښودل نه ديو والی ځکه فقهاء د سولې لپاره د (موادعت) لفظ استعمال کړی دی او موادعت په لغوی معنی يو د بل سره جنګ پريښودل ،

(۳) دريمه مسئله : داړتيا په وخت کې له کافرانو پرته له څه بدلې يا په مال ورکولو سره او يا په مال اخيستلو سره درې سره قسمه سوله روا ده لکه چې رسول کريم ﷺ تر هجرت وروسته د مدينې له يهودو سره پرته له څه عوض ورکولو سوله او معاهده وکړه ، او د حديبيه سوله يې پرته له څه بدلې ورکولو يا اخيستلو وکړه ، او د نجران له عسايانو سره يې پر معلومه اندازه مال سوله وکړه او د احزاب په غزا کې رسول کريم ﷺ عيينه بن حصن فزاری ته د مدينې په نيمايې برخه خورما ورکولو سره د سولې نيت وکي ، تفصيلي قصه د احزاب په غزا کې تيره سوې ده ، له دې معلومه سوه چې دا درې سره قسم سوله روا ده ،

(... منه عفاعنه)

سیف لودین کتابتون

(۴) **څلورمه مسئله** : دمسلمانانواوکافرانوترمنځ چې کله دڅه مودی لپاره سوله وسی نو دهغه سولی دپريکړه ليک ليکل مناسب دی ځکه کومه سوداا ومعامله چې دڅه مودی لپاره وی الله تعالی احتياطاً دهغه دليکلوحکم کړی دی الله تعالی فرمايي : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ(۲۸۲سورة البقرة) اې مومنانوکله چې دپور معامله کوی دمعلوم وخت لپاره نوهغه ليکي ..

کومه مالی اوتجارتی معامله اوسوداچې لاس په لاس وی اوترراتلونکی پوری تړلی نه وی دهغې ليکلوته اړتيانسته لکه چې الله تعالی فرمايي ﴿إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا (۲۸۲سورة البقرة)ژباړه مگرکومه سوداچې لاس په لاس کيږی نوهغه که ونه ليکي هيڅ ملامتيااوگناه پرتاسونسته .

له دې معلومه سوه چې کومه معامله چې په هغې کې وخت نه وی دهغې په نه ليکلوکې ملامتيانسته يعنی دهغې ليکل ضروری اوحتمی نه دی (شرح السيرالکبير /ج۴ /ص /۶۱)

(۵) **پنځمه مسئله** : پريکړه ليک بايدپردووپاڼووليکل سی ددې لپاره چې له هرلوری سره يوه نسخه خوندی پاته سی

(۶) **شپږمه مسئله** : پرهرپريکړه ليک باندی بايد ددواړودلودمشرانولاسليکونه وی لکه چې دحديبيه په سولکه چې کوم پريکړه ليک تيارسو په هغه باندی ددواړلولوريولاسليکونه سوی ووېو ليک له رسول الله ﷺ سره پاته سواوبل له سهيل بن عمروسره پاته سو

(۷) **اوومه مسئله** : دسولی له شرائطوڅخه ديوه شرط هم سرغړونه اومخالفت کول نه دی په کارلکه چې رسول الله ﷺ ابوجندل ؓ اوابوبصير ؓ بيرته وقريشوته وسپارل اودوئ ته يې داوويل چې ماژمنه کړی ده زه دخپلی ژمنی سرغړونه نه کوم

(۸) **اتمه مسئله** : که ديوی سيمی مسلمان حاکم له چاسره سوله وکړه نودنوروسيمودحاکم اومسلمان دهغه پابندنه دی کوم مسلمانان چې له مکی څخه مدينی منوری ته راغلورسول الله ﷺ دپريکړی له مخی هغوئ مشرکينوته بيرته وسپارل په رسول الله ﷺ باندی يوائې دومره پابندی وه چې په دارالاسلام يعنی مدينه منوره کې داسی سړی نه سی پاته کيدای ابوبصير ؓ اوابوجندل ؓ چې کوم ځای ته ولاړل اوهلته ميشت سو هغه دمدينی له حدوددباندی وو اوبل داچې درسول الله ﷺ په امراواجازه يې داکارنه دی کړی (فتح الباری ، وزادالمعاد)

(۹) **نهم مسئله**: ابوبصير ؓ چې دعامرقبيلی سړی ووژی هغه يې يوائې دخپل دين اوايمان اوځان دساتلولپاره وکړه ځکه ابوبصير ؓ په دې پوهيدی چې که مکی ته بيرته ستون سوم نوبيابه په نويوتکليفواخته کيږم اوکفراوشرک ته به اړکيږم ځکه ده دعامرقبيلی سړی قتل کې او خپل ځان او خپل ايمان يې وساتی (روض الانف جلد ۳ /ص /۳۳۴)

سیف لودین کتابتون

(۱۰) **لسمه مسئله**: کومه مسلمانه ښځه چې له دارالحرب څخه هجرت وکوي او دارالسلام ته راسي نو ددې نکاح له خپل میړه سره فسخ کیږي او دغه رنګه که کوم مسلمان سړی چې له درالحرب څخه و دارالاسلام ته راسي دده نکاح له خپلې میرمن سره ماتیږي

(۱۱) **یوولسمه مسئله**: (لاتمسکوا بعصم الکوافر) د کافرانو ښځو ناموس له ځان سره مه ساتې یعنی دوئ پریږدي اوله دوئ سره اړیکی وشلوي او مسلمان ته دانه دي روا چې یوه مشرکه ښځه په خپله نکاح کې وساتي. ددې آیت له نازلیدو وروسته عمر رضی الله عنه خپلو دواړو هغو ښځوته چې په مکه کې وې طلاق ورکي دیوې نوم قریبه وه چې هغې وروسته له معاویه بن ابی سفیان سره نکاح وکړه او ددویمې نوم ام کلثوم وه، چې هغې بیا وروسته له ابوجهم سره نکاح وکړه (فتح الباری جلد ۵ /ص/ ۳۶۱)

دصحابه کرام رضی الله عنهم له عمل او اخلاص څخه دا څرګندیږي چې دوئ د الله ﷻ دحکم په پرتله دهیڅ اړیکی او مینی یوه ذره پرواهم نه ساتله او څنګه به وای ځکه ددوئ زړونه خو الله ﷻ له مینی ډک وو او دبل چا دمینی ځای نه وو پکي پاته (ماجعل الله لرجل من قلبین فی جوفه) الله تعالی دهچا دوړه زړونه نه دي پیدا کړي..

(۱۲) **دوولسم راز**: دابن اسحاق په روایت کې راغلی دي (لایسقط من شعره الا اخذوه) یعني درسول کریم ﷺ له بدن مبارک څخه به چې کوم ویښته ولویدی صحابه کرام رضی الله عنهم به هغه په ډیره مینه او ډیر تعظیم سره لاس په لاس کاوو او تبرکاً به یې له ځان سره خوندي ساتي له دې معلومه سوه چې تبرک دانبیاء علیهم السلام په آثارو رصحی او جائزدی (فتح الباری جلد ۵ /ص/ ۲۵۰) لکه چې الله تعالی فرمایې

﴿وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَن يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَىٰ وَآلُ هَارُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ (سورة البقرة آیت ۲۴۸)

ژباړه: بني اسرائیلو چې کله له خپل نبي علیه السلام څخه دطالوت دپاچهی علامه وپوښتله نو دا علامه ورته بیان سوه چې دهغه سره به یو صندوق وي چې په هغه کې به دموسی علیه السلام او هارون علیه السلام تبرکات وي یعنی دموسی علیه السلام او هارون علیه السلام لکړه، جامې، څپلی، او دتورات څه تختي به وي او دتبرکاتو صندوق پورته کونکی به ملائکه وي چې دهغه په لیدو سره به دمؤمنانو دهغه دپاچهی یقین راځي... او ښکاره خبره ده چې کوم سړی دتعظیم او دلیل وړوي نو دهغه دآثارو تعظیم په حقیقت کې دهمدی سړي تعظیم دی او صحابه کرام رضی الله عنهم درسول الله ﷺ زغره، توره، او پیاله، او ګوتمی، دتبرک په څیر کارول، په صحیح بخاری کې راغلی دي چې پرهغه باندی امام بخاری رحمة الله علیه په کتاب الخمس کې یو بیل باب نومولی دی باب ماذکر من ورع النبی صلی الله علیه وسلم وعصاه وسیفه وقدحه وخاتمه ومن شعره ونعله الخ جلد ۱ /ص/ ۴۳۸) که موددې مسئلې تفصیل په کاروی نو جذب القلوب او شفاد قاضي

سیف لودین کتابتون

(۱۳) **ديارلسم حكمت** : دحديبيه په سوله کې دصديق اکبرؓ غوره والی اوفضيلت له دوولاړومعلوم سو لوموړی داچی ټول صحابه کرام ؓ دعمرفاروقؓ په ګډون خفه اوغمجن وويواځي ابوبکرصديقؓ درسول کريمﷺ په خير مطمئن اوډاډه وو ، دويم داچی کله عمربن الخطاب ؓ خپل خفګان اوغم ابوبکرصديق ؓ ته بيان کي نوابوبکرصديق ؓ له ژبی ټکی په ټکی هغه ځواب راووتی کوم چی درسول اللهﷺ له ژبی مبارکي څخه وتلی وو (۱)

(۱۴) **مسئله** : امام شافعی رحمه الله فرمايي : چی دحديبيه څه برخه په حل کې ده اوڅه برخه يې په حرم کې ده داما م احمدپه روايت کې راغلی دی چی رسول کريمﷺ خودحل په برخه کې ميشت وو مګرلمنځونه يې دحرم په حدودوکې آداکول ، ددې مسئلی پربناء کوم سړی ته چی داسی صورت پيښ سی وحرم ته نژدی وی نولمنځونه دی دحرم په حدودوکې کوی دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما هم همدا عمل وو .

اوبل داچی له دې پيښي څخه داهم معلومه سوه چی دسل زره لمنځوثواب په مسجدحرام پوری خاص نه دی بلکې دحرم په حدودوکې چی هرځای لمونځ آداسی دسل زره لمنځوثواب ورته رسيږی (۲)

(۱۵) **مسئله** : رسول کريمﷺ چی کله صحابه کرامؓ ته دقربانۍ اوسرخريلوحکم وکي اوصحابه کرامؓ په هغه کې لږځنډوکي نورسول کريمﷺ دام المؤمنين ام سلمةؓ په مشوره باندی عمل وکي ، له دې څخه داڅرګندېږی چی له ښځوسره مشوره کول روادی په دې شرط چی دښځی پوهه ، زراکت ، پرهيزګاری ، اودينداری دډاډوړوی ..

(۱۶) **مسئله** : دسهيل بن عمرو په ټينګارسره رسول کريمﷺ دبسم الله الرحمن الرحيم پرځای باسمک اللهم ليکل ومنل که څه هم بسم الله ليکل غوره اوښه وو مګر خوباسمک اللهم هم حق اوصحی وو رسول کريمﷺ په غوره اوافضل باندی ټينګارونه کي ..

(۱۷) **مسئله** : دبيعت غوره والی اوفضيلت دبيعت حقيقت دعقبه دبيعت په بيان کې تيرسوی دی دهغه خلاصه داده چی بيعت له بيع څخه جوړدی (بيع) معنی خرڅول ، پلورل، اودشريعت په اصطلاح کې دخپل ځان خرڅول دجنت په بدل کې پرالله ﷻ باندی دلته څوشيان دی يو (بيعت) خرڅول ، دويم (مبيع) خرڅ سوی شئ ،دريم (ثمن) قيمت ارزښت (بائع) خرڅونکي (مشتری) رانيونکي ، اخيستونکي

دلته نفس خرڅ سوی دی ، جنت دهغه بدله ده خرڅونکي انسان دی اورانيونکي الله ﷻ دی دټولوپوهانوپه نزد داخبره منل سوی ده چی دسوداترکيدلووروسته مبيع دبائع له ملک وزی اودمشتری په مِلک کې داخليږی مشتری (رانيونکي) دټولوتصرفاتومالک وی

(۱) زادالمعاد جلد ۲ /ص /۱۲۸)
(۲) زادالمعاد جلد ۲ /ص /

سیف لودین کتابتون

دغه رنګه د مومن د ځان له خرڅولو وروسته د خپل ځان مالک نه پاته کیږي ځکه نو مؤمن ته په کار دي چې له بیعت وروسته په خپل نفس کې په خپله خوښه کار ونه کړي بلکې د الله ﷻ اوامر او نواهي پر ځای کې مګر د اسود ا یواځې په خپله نه کیږي بلکې د انبیاء علیهم السلام او د هغوئ د وارثانو په واسطه کیږي ، صحابه کرام ﷺ چې کله د نبي کریم ﷺ په لاس مبارک باندې بیعت وکې نو اصل بیعت خوله الله ﷻ سره وو او رسول کریم ﷺ یواځې کفیل او وکیل دی لکه چې الله تعالی فرمایي ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ﴾ سورة الفتح آیت ۱۰) ژباړه : په تحقیق سره هغه کسان چې ستا سره بیعت کوي بیشکه هغوئ په حقیقت کې له الله تعالی سره بیعت کوي د الله ﷻ لاس د هغوئ تر لاس لوړ دی .

په صحیح بخاري کې له سهل بن سعد ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ و فرمایل : (من یضمن لي مابین لحییه ورجلیه اضمن له الجنة) ژباړه : څوک دی ماته د خپلو ژامو او پښو د مینځ ذمه واره سي یعنی د ژبې او عورت د ساتنې ذمه واخلي نو زه د هغه لپاره د جنت ضامن یم ..

په دې حدیث شریف کې رسول کریم ﷺ خپل ځان د روپو یعنی د جنت ضامن وګرزوی چې که مومنان د دې ضمانت راکړي چې په ژبه او عورت کې به هیڅ واک د الله ﷻ له خوښې خلاف نه کوي کوم چې زمونږ مشتري ، رانیونکي دی ، نو زه به د الله ﷻ له لوري د هغه د مبیع یعنی دغه تا چې ځان پر خرڅ کړی دی د بدل یعنی جنت ورکولو ضامن او کفیل سم .

په دې حدیث کې د یضمن او اضمن لفظ و دې بیع ته اشاره کوي ځکه ضمانت او کفالت په بیع کې وي په مبیع کې که څه عیب را ووزي نو مشتري ته د عیب د لید و په صورت کې د هغې بیرته ورکولو حق شته مګر که اخیستونکي په مبیع کې له عیب سره سره د اووایې چې زما خوښه ده نو خیار عیب ساقطیږي او بیع په پوره معنی تامیږي د اخیستونکي له لوري د بیرته ورکولو او فسخ احتمال نه پاته کیږي ، صحابه کرامو ﷺ چې کله تر ونه لاندې د رسول کریم ﷺ په لاس مبارک بیعت وکي نو الله عزوجل دا آیت نازل کي :

﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾ (سورة الفتح آیت ۱۸) ژباړه : په تحقیق سره الله تعالی راضي سو له هغه مومنانو څخه چې دوئ تر درختي لاندې ستا سره بیعت وکي

الله ﷻ خپل خیار عیب ساقط کي او دایې ښکاره کړه چې دې کسانو له الله ﷻ سره د سودا معامله کړې ده هغه هیڅکله نه ماتیږي الله تعالی خو د خپلې رضا په ښکاره کولو سره خپل خیار عیب ساقط کی مګر صحابه کرام ﷺ هم د رضینا بالله په ویلو سره خپل خیار عیب ساقط کړی دی لکه چې الله تعالی فرمایي : (رضی الله عنهم ورضوا عنه) الله ﷻ له دوئ راضي سو او دوئ له الله تعالی څخه راضي سو .

سیف لودین کتابتون

که څه هم د الله ﷻ له لوري د هيڅ عیب امکان هم نسته مگر صحابه کرام ﷺ د رضیت په ویلو سره د فسخ او اقالې امکان هم پای ته ورسوی لنډه دا چې دواړولوریو دخپلې رضا او خوشالي په ښکاره کولو سره هریوه د عیب دلیدلو خیار ساقط کي سوداپوره سوه صحابه کرامو ﷺ خپل ځانونه الله ﷻ ته وسپارل دالله ﷻ دژمنی برابر دهغوئ د ځانو بدل یعنی جنت دالله ﷻ په ذمه واجب سوی دی دصحابه کرام ﷺ څخه پرته دنوروټولو مومنانو معامله په ویره کیده ځکه دامعلومه نه ده چی دچامبیع به دخیار عیب په بناء باندی بیرته ورکول کیږی اوډیروخلکوخوپه دین کې دالله ﷻ سره دخپلی بیع اقاله کړی ده لکه چی یوکوچی رسول الله ﷺ ته راغلی او وې ویل (أَقِلْنِي بَيْعَتِي) زماسودا بیرته ماته کړه دفقهاء په اصطلاح کې اقاله دخرڅونکی اورانیونکي په حق کې دسوداماتیدل دی اوده دریم سړی په حق کې نوی سودا ده دغه رنګه کله چی یوبدبخت له الله تعالی سره دخپلی سودا اقاله وکړی نودهغه سړی اودالله ﷻ په مینځ کې سوداماتیږی اوده دریم یعنی شیطان په حق کې نوی سودا کیږی.

دامام ابوحنیفه رحمه الله مسلک دی (لاربوا بين المولى وعبده) ژباړه: دمریئ او بادار په مینځ کې سود نسته ځکه مریئ په خپله له هرڅه سره ټول دبادار ملک دی موږ خوترمریانوهم غټ مریان یو اودهغه الله ﷻ بندګان یو اوبندګان هم داسی بندګان یو چی هیڅ وخت دهغه له بندګی اومریی توبه نه سوخلاصیدای اونه دالله ﷻ په حمدسره دهغه له عبذیت څخه ازادیدل غواړو ځکه الله ﷻ له موږ څخه یوه نیکي رانیسی اولږترلږه لس چنده بدله راکوی (يمحق الله الربوا ويربي الصدقات)

حاصل دخبری داسوچی: کموصحابه کرامو ﷺ چی درسول الله ﷺ په لاس مبارک باندی بیعت وکي الله ﷻ له هغوئ څخه خوشاله سو اوددوئ زړونه یې دآرام اوډاډ په ډیرارزښتناک دولت سره آبادکړه اودنژدی بریالیتوب اوډیروغنیمتوژمنه یې ورسره وکړه لکه چی الله تعالی فرمایي: ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا﴾(۱۸) ﴿وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا﴾ (۱۹) \سورة الفتح) ژباړه: په تحقیق سره الله ﷻ خوشاله سو له مومنانو کله چی دوئ لتاسره بیعت کوی ترونه لاندی الله ﷻ ته معلوم دی هغه څه چی ددوئ په زړوکې دی الله تعالی به پردوئ باندی آرام اوډاډ نازل کي اوپه بدل کې یې نژدی فتح ورکړه اډیرغنیمتونه دی چی وروسته به یې اخلی او الله ﷻ غالب او حاکم ذات دی.

اوپه سورة توبه کې یې وبیعت ته لویه کامیابی ویلی ده لکه چی الله تعالی فرمایي:

سیف لودین کتابتون

ژباړه : نوتاسوخوشاله سی په هغه سوداکومه چی تاسوله الله ﷻ سره کړی ده اودادېر لویه کامیابی ده ..

نبی کریم ﷺ به کله په اسلام باندی اوکله په هجرت باندی اوکله پرجهادباندی اوکله دګناهوپرپرېښودلوباندی مثلاً له الله تعالی سره به هیڅوک نه شریک کوی ، زنا ، غلا ، بد نه کوی اولادبه نه وژنی پرچابه تورنه تړی اوکله په دې خبره چی دالله ﷻ بندګی به کوی ، پنځه وخت لمونځ به پوره پوره کوی ، زکوة به ورکوی ، امربالمعروف اونهی عن المنکربه کوی ، دهرمسلمان دخیرغوښتنه به کوی ، دخپل مشرا وامیرخبره به منی ترڅوچی دالله ﷻ دنافرمانی حکم ونه کړی ، له چاڅخه به سوال نه کوی ، دموراوپلارسره به نیکی کوی اوداسی نور پردی کاروبه رسول الله ﷺ له خلکوسره بیعت کوي داپه ډېروصحیح احادیثوثابت اومنل سوی دی دتفصیل لپاره فتح الباری جلد /۱/ اوکنزالعمال جلد /۱/ ص /۲۵/فصل خامس فی احکام البیعت ته رجوع وکړی

ددې صریح آیاتواوصحیح احادیثوڅخه وروسته دبیعت په مسنون اومستحسن اوداچی سبب دخیر اوبرکت دی هیڅ د شک اوشبه ځای نسته رسول الله ﷺ چی څنګه دکتاب اوحکمت ښوونکي دی اودامت دزړوپاکونکي اوزنګ لیری کونکي دی دغه رنګه دالله ﷻ پرځمکه باندی دالله ﷻ خلیفه هم وو کوم بیعت چی رسول الله ﷺ دخلیفة الله په حیثیت سره اخیستی دی هغه دخلفاء لپاره سنت سو کوم بیعت چی دکتاب اوحکمت ښوونکي دخلکودسپیڅلتیالپاره اخیستی دی هغه دحق علماء اودالله ﷻ دپیژندنکولپاره سنت اوهمداتګلاره سوه ..

(۱۸) **مسئله** :دعثمان غنی ؓ له لوری درسول الله ﷺ یولاس په بل لاس باندی ایښودوسره بیعت کول ددې خبری دلیل دی چی په غیاب کې بیعت کول هم صحی دی ..

(۱۹) **مسئله** : دسلمه بن اکوع ؓ درې ځله بیعت کول ددې خبری دلیل دی چی دبیعت نوی کول اودهغه بیاکول سنت اوښه کاردی ..

(۲۰) **مسئله** : په حدیبیه کې چی صحابه کرام ؓ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په لاس بیعت وکي الله تعالی پرته له څه قیداوشرطه له دوئ څخه دخپلی خوشالی اعلان وکي اووې ویل (لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ) او (فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ) سره یې ددوئ دزړواخلاص بیان کي او (فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ) سره یې ددوئ ډاډاودزړه یقین بیان کي چی ددوئ زړونه بیخی ډاډه دی ، دخفګان هیڅ نوم اونښان نسته پکی پاته اوداخبره ښکاره ده چی الله تعالی دچاپرزړه ډاډاوآرام نازل کی داسی څوک نه اوس دستی اونه په راتلونکي کې له دین اوښتلای سی په احادیثو کې ددوئ ډېرفضیلتونه راغلی دی

سیف لودین کتابتون

لکه چې په مسنداحمدکې له جابربن عبدالله رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل کوموخلکوچې ترونه لاندې لماسره بیعت کړی دی له هغوئ څخه به هیڅوک هم دوزخ ته نه ځی .. اوتیرسوی آیت (لَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ) په دې آیت سره داثابت سوه چې دوئ دالله ﷻ ځانګړی خاص بندګان دی اودالله ﷻ په نزد غوره دی داپه ښکاره اوڅرګنده ځنی معلومه سوه .

شیعه خود (فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ) لږپه غوراوسوچ سره ولولی چې څنګه الله تعالی ددوئ دزړو داخلاص یادونه کړی ده چې له دې څخه ښکاره معلومه سوه چې دصحابه کرام رضی الله عنهم داعمل دتقیّه پربناء باندی نه وو بلکې په اخلاص اوربښتینی نیت سره وو د (فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ) څخه وروسته دتقیه هیڅ احتمال نه پاته کیږی کله چې الله تعالی ددوئ دزړو داخلاص شاهدی ورکړه نواوس دمنافقت اوتقیه احتمال پاته نه سو او (وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿۱۸﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا وَكَانَ اللهُ عَزِيزًا حَكِيمًا) په دې سره یې ترلیری ځایه دخبرولړۍ ورسوله یعنی له دوئ سره دخیبردفتح اوډیروغنیمتواولویوبریالیتوبونو ژمنه وسوه اوداژمنه هم له مخلصانوسره وه له دی معلومه سوه چې داغنیمتونه چې پرچاباندې وویشل سو هغوئ دالله ﷻ غوره اومخلص بندګان دی اوهغه څوک ووچې الله ﷻ ځنی راضی وو.

دنړۍ وپاچهانوته داسلام بلنه لیکونه دهجرت شپږم کال دلوی اخترمیاشت!

الله تعالی دحدیبیه وسولی ته ښکاره بریالیتوب اودډاډاوآرام سبب ووایو ربښتیاهم هغه ښکاره بریالیتوب اودډاډاوآرام لامل سوه ځکه د (فتح) معنی په عربی ژبه کې دیوبند شئ خلاصول دی ، دعربودمخالفت له کبله داسلام بلنه اوداحکامورسولودروازه تراوسه بنده وه ددې سولی له امله دروازه پرانستل سوه اوس ددې وخت راغی چې دالله عزوجل پیغام دالله ﷻ وټولوبندګانوته ورسیږی اوداسلام پردې لوی سترخوان باندی وټولی دنیاته بلنه ورکړل سی چې راسی ددې سترخان دخوندورواوپاکومیوخوندونه واخلی کوموخلکوچې دالله ﷻ بلنه ومنله اوداسلام سترخان ته راغلل کښیناستل چې هریووینی نوچې هریووینی په ښوخویو اوښائسته اخلاقو اوښوصفاتواوداسی فضائلواوآدابواونیکیواوستاینورنګین دی هیڅ داسی رنګ نسته چې هغه دې پردې سترخان باندی نه وی داسی پاک اوسپیڅلی اوخوندور سترخان دی چې دهیڅ ښکاره اوپټی بی حیایی اوناوړه کارودوړی زری نوم اونښان نسته له دنیاڅخه په لاس پریمنځلواودالله ﷻ دپاک نامه په اخیستلوسره خوراک پیل کړتراوسه یوه دوې ګولې لانه وی خورلی چې ژبه سمدستی داسلام خونداودایمان مزه محسوس کی اوپوه سی چې

سیف لودین کتابتون

د روح خوراک خوهمدادی په همدی خوراک سره روح ژوندی پاته کیږی د کفراو شرک نجاست او مرداری په خوړلو سره خو د روح ژوندی پاته کیدل ممکن نه دی ،
لنډه دا چې نبی کریم ﷺ له حدیبیه څخه په راستنیدو کې د ذی الحجة په میاشت کې په کال شپږم هجری پاچهانوته د اسلام د بلنې لیکونو لیږلو نیت وکي صحابه کرام ﷺ یې راغونډ کړه او وعظ یې ورته وکي ورته وې فرمایل : (ایها الناس) اې خلکو زه د ټولی نړی لپاره رالیږل سوی یم ټولی نړی ته دا پیغام ورسوی الله تعالی دی په تاسو رحمت وکي د عیسی ﷺ د حوارییبنو په څیر اختلاف مه کوي کله چې به عیسی ﷺ نژدی لیږل نو دوئ به خوشاله سو او کله چې به یې دلیری ځای د لیږلو حکم ورته وکي نو دوئ د ځمکی خواته درانه کښیناستل ـــ صحابه کرام ﷺ خو د اطاعت، مینی ، محبت ، او ځان قربانولو او اخلاص او وفا سمبول وو په ډیرو سختو ازموینتو کې په هرځای کې په لوړو درجو کې کامیاب سوی وو د رضی الله عنهم ورضوا عنه غوره نمره دوئ اخیستی وه دوئ کله له دې ویریدل په زړه او بدن سره دامر پرځای کولو لپاره تیار سو او یوه مناسبه مشوره یې د رسول کریم ﷺ په خذمت کې وړاندی کړه هغه دا چې یا رسول الله ﷺ پاچهان چې پر کوم لیک باندی مهرنه وی هغه د منلو وړنه ګڼی تردې اندازی چې لولی یې هم نه ، رسول کریم ﷺ د صحابه کرام ﷺ په مشوره مهرجوړکي چې د هغه کړی د زرووه او غمی هم د زرو وو مګر د حبشیانو کاریګری وه په مهرباندی محمد رسول الله ولیکل سو ترټولو لاندی لفظ محمد ﷺ وو او ترټولو لوړ لفظ د الله ﷻ وو او د رسول لفظ په مینځ کې وو ، تاریخ طبری جلد ۳ /ص / ۸۴، زرقانی جلد ۳ /ص / ۳۳۴)

رسول الله ﷺ د پاچهانو او مشرانو په نامه یې د لیکونو لړی جاری که دوئ ته یې د حق بلنه ورکړه او په دې یې خبر کړل چې د رعیت د ګمراهی ټوله پړه به پر تاسو اچول کیږی .
واقدی وایې چې دا لیکونه د هجرت د شپږم کال په پای کې د ذی الحجی په میاشت کې د حدیبیه تر سوله وروسته ولیږل سو او د سیرت یو شمیر نور علماء بیا وایې چې په کال اووم هجری کې ولیږل سو کیدای سی چې رسول الله ﷺ د نړی وپاچهانو ته د لیکونو نیت د هجرت د شپږم کال په پای کې کړی وی خو لیږل سوی په اووم هجری کې وی (۱)
او امام بیهقی فرمایې چې د موته له غزا وروسته لیکونه لیږل سوی دی مګر پردی باندی ټول متفق دی چې د حدیبیه تر سوله وروسته او د مکی تر فتح مخکې دا لیکونه لیږل سوی دی یعنی د دې مودی په مینځ کې د لیکونو لړی جاری وه ، والله اعلم ...

(۱) مدارج النبوة جلد ۲ /ص / ۲۹۴)

سيف لودين كتابتون

لومړی لیک دروم دپاچا (هرقل) په نامه لیک مبارک دهجرت اووم کال

بسم الله الرحمن الرحيم . من محمد عبدالله ورسوله الى هرقل عظيم الروم سلام على من اتبع الهدى امابعدُ فانى ادعوک بدعاية الاسلام اَسلِم تسلم يؤتک الله اجرک مرتين فان توليت فان عليک اثم الاريسين ياأهل الكتاب تعالو الى كلمة سواء بيننا وبينكم ان لانعبدوا الاالله ولانشرک به شيئاً ولايتخذ بعضنا بعض اربابا من دون الله فان تولو فقولوا اشهدوبانامسلمون ..

ژباړه : پیل کوم په نامه دالله ﷻ چې ډیر مهربان دی په دنیاکې هم اوپه آخرت کې هم : دالیک دمحمد ﷺ دالله بنده اورسول له لوری څخه دی دروم ولوی مشر ته سلام دی وی په هغه چاچې دهدایت پیروی وکړی ، وروسته زه تارابولم هغه کلمی ته چې اسلام ته داخلیدونکي ده یعنی کلمه طیبه اسلام ومنه روغ به پاته سی اوالله ﷻ به دوچنده بدله درکړی لکه چې له اهل کتابو سره الله ﷻ ژمنه کړی ده (اولئک يؤتون اجرهم مرتين) اوکه ته مخ واړوی له اسلامه نودټول اولس داسلام نه راوړلوګناه به پرتاباندی وی چې ستاپه پیروی کې دی اواې دکتاب خاوندانوراسی ویوی داسی خبری ته چې هغه زموږ اوستاسوترمینځ منله سوی اویوه خبره ده هغه داچې له الله ﷻ پرته به دبل هیڅ شئ عبادت نه کوو اونه به له الله ﷻ سره شریک نیسو، اوله الله ﷻ پرته به یوبل خپل معبوداوخدای نه جوړوکه دوئ اسلام ونه مني ته ورته ووایه چې تاسوشاهدان سی پردی چې موږ مسلمانان یو

رسول کریم ﷺ دالیک مبارک دحیّه کلبی رضی الله تعالی عنه ته ورکي اودروم پاچاته يې ولیږی دروم پاچاپه همدوخت کې پرفارسیانودبریالیتوب دشکر داداکولولپاره له حمص څخه تربیت المقدس په پښوراغلی وو دحیه کلبی ﷺ په کال اووم ۷ هجری کې بیت المقدس ته ورسیدی اودبصری دوالی په واسطه دروم دپاچادربارته ورسیدی اوهغه ته يې درسول الله ﷺ لیک ورسوی (فتح الباری جلد ۱ /ص /۳۵)

اوترلیک ورکولومخکې يې یولنډه ویناوکړه دحیه ﷺ داسی وو :

دروم دپاچاپه دربارکي ددحیه کلبی رضی الله عنه ویناګوی !

اې دروم پاچازه تاته دهغه چاله لوری سفیرراليږل سوی یم چې هغه ترتاډیر غوره دی اوکوم ذات چې دئ يې راليږلی دی هغه ترټولولوړاوغوره دی نوځکه هرڅه چې زه وایم هغه په غوروا وره اوپه اخلاص سره دهغه ځواب راکړه که په عاجزی سره هغه وانه وری نوپه هغه سم نه سی پوهیدلای اوکه په ځواب کې اخلاص نه وی نوهغه ځواب عادلانه اومنصفانه نه وی ، اې پاچاداراته ووایه اوته په دې ښه خبرې چې مسیح بن مریم صلی الله علیه وعلی نبینا وسلم لمونځ کاوو ؟ دروم پاچاهوییشکه هغه لمونځ کاوو .

دحیه کلبی ﷺ زه تادهغه پاک ذاته خواته رابولم چې دهغه لپاره مسیح لمنځونه کول اوهغه ته يې دنازتندی پرځمکه ایښودی هغه څوک چې مسیح ﷺ يې دموږپه نس کې

جوړ کړی دی او هغه څوک چې د اټول اسمانونه او ځمکې يې پيدا کړی دی او تر هغه وروسته زه تا د هغه د نبي اُمي ﷺ خواته رابولم چې موسی علیه السلام او عيسی علیه السلام د هغه زيری ورکړی دی او ته په دې ښه خبريې او پوه يې که ته دا بلنه و منې نو ستا لپاره د دنيا او آخرت کاميابي ده او که يې و نه منې نو آخرت خو ستا له لاسه وزی او په دنيا کې به ستاسره نور خلک شريک وی او باور وکړه چې ستا يو رب شته چې هغه نه منونکی ميده کوی او خپل نعمتونه بدلوی..

دروم پاچا د رسول الله ﷺ ليک د دحيه کلبی ؓ له لاسه واخيستی او په سر او سترګو يې کيښودی مچ يې کي وروسته يې خلاص کي او وې لوستی باچا وويل زه به پردی فکرو کړم او سبا به د دې ځواب درکړم (روض الانف جلد ۲ /ص/ ۳۵۵)

دروم پاچا و خپلو خادمانو ته حکم وکي چې که هر څوک د هغه د قوم څخه زموږ ملک ته راغلی وی هغه دې راوستل سی د دې لپاره چې له هغوئ څخه پوښتنې وکړم په اتفاقی ډول ابو سفيان د قريشو له يوی ډلې سره په همدی وخت کې د تجارت په نيت شام ته راغلی وو په غزه کې ميشت وو ابو سفيان تر دغه وخت لا په اسلام نه وو مشرف سوی له غزی څخه هغه د پاچا و درباته راوستل سو د پاچا دربار په ډېر شان او دبدبه سره تيار سوی وو دروم مشران، عالمان، راهبان، ټول راغوښتل سوی وو او د قريشو تجارتی ډله هم راغله دروم پاچا لومړی د عربو و ډلې ته وويل آيا په تاسو کې د دې سړی چې د نبوت دعوه يې کړې ده نژدی خپلوان شته؟

ابو سفيان وويل زه يم

دروم پاچا وويل ته ما ته رانژدې شه (۱) او ستا ملګری دی تر تا شاته کښيني او دده ملګرو ته يې وويل چې زه له ده څخه پوښتنې کوم که يې دروغ وويل نو تاسو راته وايast، ابو سفيان وايې که ما ته دا انديښنه نه وای چې زما ملګری به زما تکذيب وکړی نو ما به خامخا دروغ ويلی وو وروسته د خبرو اترو لړۍ په لاندی ډول پيل سوه:

پاچا: په تاسو کې د محمد ﷺ نسب څنګه دی؟

ابو سفيان: هغه د ډېر غوره نسب خاوند دی (۲) د هغه تر نسب بل لوړ نسب د هيچا نسته.

پاچا: آيا د هغه په پلرو او نيکه ګانو کې څوک پاچا تير سوی دی؟

ابو سفيان: نه

پاچا آيا تاسو هغه د نبوت تر دعوه مخکې کله په دروغ ويلو ليدلی دی؟

ابو سفيان: نه

پاچا: د هغه پيروی کونکي څنګه خلک دی اميران او شتمن خلک او که بی وزله او کمزوری؟

(۱) د دې لپاره چې حياء او مخامخ کيدل له تکذيب څخه مانع نه سی ځکه نو رد ده شاته کښينول سو) - (۲) لومړی جمله د صحيح بخاری د روايت ده او دويمه جمله د مسند بزار د روايت ترجمه ده قال هو فی حسب مالا يفضل عليه احد ج ۸/ص/۱۶۲)

سیف لودین کتابتون

ابوسفيان: ډير خلک بې وزله او كمزوري خلک دي

پاچا: دهغه پلويان ورځ په ورځ زياتيږي او كه كميږي؟

ابوسفيان: ورځ په ورځ زياتيږي

پاچا: آياڅوک چې دهغه په دين کې داخل سي تر داخليدو وروسته دهغه له دين بيرته اوړي مرتد كيږي كه نه؟

ابوسفيان: نه (۱)

پاچا آيا هغه دژمني او وعدې مخالفت كوي؟

ابوسفيان: نه هيڅكله نه تراوسه هغه له موږ سره لوظ نه دى مات كړى مگر اوس زموږ او دده ترمينځ دڅه مودې لپاره سوله سوې ده معلومه نه ده چې په هغې كې به څه كوي، ابوسفيان وايې چې پرته له دې خبرې ماته ديوې خبرې زياتولو وخت پيدا نه سو دابن اسحاق په روايت كې راغلي دي (فوالله ماالتفت اليها مني) ابوسفيان وايې قسم په الله ﷻ پاچازما ودې خبرې ته كومه چې ماله ځانه زياته كړه يوه ذره هم ندې كتلي،

پاچا: كله تاسو له هغه سره جنگيدلي هم ياست؟ (۲)

ابوسفيان: هو

پاچا: جگړه څنگه وه؟

ابوسفيان: كله دئ بريالي سوى دى او كله موږ،

پاچا: هغه تاسو ته په څه شئ حكم كوي؟

ابوسفيان: هغه وايې چې ديوه الله ﷻ عبادت كوي هيڅوک له هغه سره مه شريک كوي او دكفر او شرک ټول رواجونه كوم چې ستاسو پلرو او نيكونو كړي دي هغه ټول پريږدى او لمونځ او زكوة او رښتيا او پاک لمني او دخپلوى حكم كوي.

---

(۱) داسلام په بدگنلو سره هيڅوک تراوسه پورې له اسلام نه دى اوښتي يوشمير مرتدين دښځو او پيسو په طمع له اسلام اوښتي دي چې هغوئ ته هيڅ نه كتل كيږي الحمد لله اسلام له دې پاک دى چې څوک دې دزنا، ښځو او پيسو په طمعه خپل ځان ته واړوي په حيدرآباد كې زما يو عيساى همسايه وو دئ به كله ناكله ماته راتلى تقريباً پنځه پنځوس كالو وو يوه ورځ مادته قسم وركي چې ته الله حاضر او ناظر وگڼه او رښتيا راته ووايه چې په دې دومره وخت كې تا يو مسلمان ليدلى دى چې دين اسلام يې بدگڼلى وى او عيسائى سوى وى هغه ځواب راكي قسم په الله ﷻ كه ما يو مسلمان هم داسې ليدلى وى چې هغه دې اسلام دبدى له وجې پرې ايښى وى يواځي او يواځي دښځو او پيسو، دالرو په طمع عيسائى كيږي او هغه هسې په نامه عيسائي وى په عقائدو كې دهغه هيڅ تغير او تبديل نه راځي يواځي دډالرو او دښځو دازادى له كبله ځان ته عيسائى وايې،، مگر په دين اسلام كې ودې سرې ته چې دپيسو او يا بلې وجې عيساى سې مرتد او كافر ويل كيږي. منه)

(۲) داترجمه د (فهل قاتلتموه) ده پاچا دجنگ مخكېوالى قريشو ته منسوب كې او داسې يې ونه ويل چې آيا ده له تاسو ره جگړه كړې ده، پاچا دنبى كريم ﷺ دادب لحاظ وساتى لومړئ يې جنگ پر قريشو وتپى او بل دا چې دالله ﷻ پيغمبر ﷺ له قوم سره هيڅكله لومړى جنگ نه كوى اول دوئ الله ﷻ ته رابولى كله چې دوئ حق ونه منى او په غرور سره دانبياء عليهم السلام مقابله پيل كې وروسته نو انبياء عليهم السلام له دوئ سره جهاد او دجنگ پيل كوى)

پاچا : ترجمن ته وويل چې ته وابوسفيان ته ووايه چې مالومړی دهغه دنسب پوښتنه وکړه
تاوويل چې دهغه ډيرلوړاوغوره نسب دی اوترهرچالوړدی اوبيامې له تاڅخه داوپوښتل
چې دهغه په کورنۍ کې خوبه کوم پاچانه وی تيرسوی ، تاوويل نه که دهغه په کورنۍ کې
کوم پاچاتيرسوی وای نومابه داويل چې هغه غواړی له دی لاری دخپل نيکه تللی پاچهی
بيرته لاس ته راوړی ، اوماله تاوپوښتل چې تاسوخوهغه په دروغ ويلونه دی ليدلی ،
تاوويل نه ، له دې څخه ماته داڅرګنده سوه چې داڅنګه کيدای سی چې يوسړی په
بندګانوپوری دروغ نه وايې اومعاذالله په الله ﷻ باندی دروغ ووايې ، اوماله تاڅخه
داوپوښتل چې څنګه خلک دهغه پيری کوی ، تاوويل چې کمزوری اوبی وزله خلک ،
رښتياهم دانبياء عليهم السلام پيروی کونکي ډيری کمزوری اوبيوزله وی(۱) ، اوماله
تاوپوښتل چې دهغه منونکی زياتيږی که کميږی ، تاوويل زياتيږی ، رښتياهم دايمان هم
همدغه حال دی دهغه منونکی ورځ په ورځ زياتيږی تردی اندازی چې دکمال حدته
ورسيږی اوماله تاڅخه وپوښتل چې دهغه په دين کې له داخليدووروسته کوم سړی دهغه
له دين اوښتی دی ، تاوويل نه ، رښتياهم دايمان داحال دی چې کله څوک دهغه
خونداومزه وڅکی اودهغه خوشالی زړه ته ننوزی نوبياپه هيڅ شئ هغه بيرته نه وزی ،
اوماله تاڅخه وپوښتل چې آياهغه دژمنی مخالفت کوی تاوويل نه رښتياهم
دپيغمبرانوهمداشان وی هغوئ هيڅکله بی لوظی نه کوی ، اوماله تادجګړی په اړه
وپوښتل تاوويل کله هغه بريالی وی اوکله موږ ، رښتياهم دانبياء عليهم السلام سره په
پيل کې دالله تعالی همداسی معامله وی کله بری اوکله ماته ددې لپاره چې دهغه
دمنونکوصداقت اواخلاص وازمويل سی مګرپه پای کې هغه بريالی کيږی اوفتح دده
په برخه وی ، اوماله تاوپوښتل چې هغه تاسوته دڅه حکم کوی ، تاوويل دالله ﷻ دعبادت
حکم کوی دشرک اوبت پرستی څخه منع کوی ، دلمانځه اوزکوة اورښتياويلو، اوپاک
لمنۍ ، اوداسی نوروغوره شيانوحکم کوی که داټول شيان کوم چې تاوويل صحی وی
نوهغه رښتياهم نبی ﷺ دی اونژدی ده چې هغه به ددې ځای مالک وګرزی کوم ځای چې
زماتردواړوپښولاندی دی ځکه زه په دې خبريم چې دانبی ﷺ راښکاره کيدونکي دی
مګردافکرمی نه وو چې په تاسوکې به راښکاره کيږی زماله هغه سره ديوځای کيدو هيله
ده که زه دهغه په خدمت کې حاضرسوم نودهغه پښی به ومينځم وروسته يې درسول الله ﷺ
ليک وټولی غونډی ته ولوستی ،
دليک په اوريدوسره زوږ اوشور راپورته سو اوله هرلوری ږغونه راپورته سو ، ابوسفيان

(۱) يعنی مغروراوسرکښه نه وی دپيسو ، مال اوقدرت له نشی خوندی وی ددوئ زړونه له سرکشی اوغرور څخه خالی وی

وایې په دغه وخت کې موږټول دباندې راوایستل سو ، کله چې موږ دباندې راووتلو نو ماخپلو ملګروته وویل چې دتعجب خبره ده چې له محمدصلی الله علیه وسلم څخه دروم پاچاهم ویرېږي ، له هغې ورځې زماپوره باورسو چې درسول اللهﷺ دین به هرومرو بریالی کېږي تردې پورې چې الله تعالی ماته داسلام توفیق راکي (بخاري شریف ، فتح الباري (۱)

امام زهري لیکې چې دعبدالملک بن مروان په وخت کې ابن الناطور دنصاراوویوغټ عالم (۲) ماته بیان کړی دی اودئ په خپله دروم دپاچا په هغه غونډه کې وو دئ وایې چې پاچا وروسته دروم یولوی عالم ته چې دهغه نوم ضفاتررومي وو درسول اللهﷺ په اړه لیک ولیکی اوهغه عالم ته یې ولیږی ضفاتر په اسماني کتابو ډیرښه خبروو اوپوه وو دلیک ترلیږلو وروسته باچا له بیت المقدس څخه حمص ته ولاړی پاچاپه حمص کې وو چې دهغه لیک ځواب راغلی ضفاترلیکلی وو چې داهغه نبیﷺ دی کوم چې موږیې انتظارکاوو اودکوم چې عیسیﷺ زیري ورکړی دی مادهغه تصدیق وکی اوزه دهغه پیروی کوم دهغه په نبي کیدوکې هیڅ شک نسته ته خامخا دهغه خبره ومنه اودهغه پیروي وکړه

پاچادلیک ترراسیدووروسته یولویه جرګه راوغوښته اودروم ټول مشران یې رایوځای کړل اوټولی دروازی یې بندی کړی اوپه خپله پرلوړځای کښېنستی اوله هغه ځایه یې وخلکوته داسی ویناوکړه (یامعشر الروم اني قدجمعتكم لخیرانه قداتاني كتاب هذاالرجل یدعوني الی دینه وانه والله لنبي الذي كنانتنظره ونجده في كتبنا فهلم نتبع ولنصدقه فتسلم دیننا وآخرتنا) ژباړه : اې دروم خلکو ربښتیاهم ماتاسو دیوډیرلوی خیرلپاره راغونډ کړي یاست هغه داچې ماته ددی سړي یعني محمدﷺ له لوري یولیک راغلی دی اوپه هغه کې ماته بلنه راکړی دخپل دین دمنلو اوربښتیاهم قسم په الله ﷻ داهغه نبيﷺ دی کوم چې موږیې انتظارکاوو اوکوم چې موږ په کتابوکې لیدلی دی راسي موږټول پریوه ځای دهغه پیروي وکړو اودهغه خبرې ومنو ددې لپاره چې زموږدنیا اوآخرت دواړه روغ پاته سي .

ددې خبری په اوریدوسره سمدستي دروم ټول مشران ولاړسو اوددباندې وتلوپه نیت یې ددروازی خواته ولاړل وې کتل چې دروازې ټولی بندی دی پاچاحکم وکې چې تاسوراسي ماخوستاسوازموینه کوله ستاسودیني کلکوالی اوپوخوالی می ولیدی خوشاله سوم خلکوچې داخبره واوریده خوشاله سواودپاچادرباته پرمخی پرسجده پریوتل وروسته پاچادحیه کلبيﷺ یوائي راوغوښتی او ورته وې ویل ، قسم په

(۱) داحدیث امام بخاري په ډیروبابوکې راوړی دی حافظ عسقلاني په دووبابوکې پردې حدیث باندې پوه ږغیدلی دی په بدء الوحی جلد ۱ /ص ۳۰ بیاتر۳۸ اودویم ځای سورة آل عمران جلد ۸ /ص /۱۰۸، او جلد ۸ /ص /۱۶۸)

(۲) ددې عالم نوم ابن الناطور دی لکه چې په صحیح بخاري کې ذکرسوی دی ، فتح الباري جلد ۱ /ص /۳۸)

الله ﷻ ماته ښه معلوم دی چې ستاسو دوست نبی مرسل ﷺ دی زه ويريږم چې د روم خلک به ما ووژنی که زه له دی نه ويريدای نوما به خامخا د هغه پيروی کړی وه ته ضفاتر د روم اسقف اعظم ته ولاړ سه هغه ډيرلوی عالم دی او ترما ښه پوه دی او بل داچې په روميانو کې د هغه عظمت او منته ترما ډيره زياته ده ته هغه ته ورسه او د رسول الله ﷺ حال ورته بيان که (۱)، دحيه کلبی ؓ ضفاتر ته ولاړی او د رسول الله ﷺ ټول حالات يې ورته بيان کړه ضفاتر وويل قسم په الله ﷻ هغه نبی مرسل ﷺ دی موږ د هغه حالات او صفات په اسمانی کتابو کې ليکلی ليدلی دی دا خبره يې وکړه او يوی حجری ته ولاړی ده توری جامی اغوستی وی هغه يې بدلی کړی او سپينی جامی يې واغوندلی او لکړه يې راواخيسته کليسا ته راغلی خلک يې راوغوښتل او داسی وينايې ورته وکړه : (يامعشرالروم انه قدجاء نا کتاب من احمد يدعونا فيه الى الله عزوجل وانی اشهدان لااله الاالله وان احمد عبده ورسول) ای د روم خلکو د احمد مجتبی ﷺ له لوری يو ليک راغلی دی چې په هغه کې يې موږ د الله ﷻ ولوری ته رابللی يو زه شاهدی ورکوم چې له الله ﷻ پرته هيڅ د عبادت لائق نسته او احمد ﷺ د الله ﷻ بنده او رسول ﷺ دی

ددې خبری په اوريدو سره ټول خلک پرده باندی راټول سو تردې پوری چې هغه يې په وهلو پريښودی ، دحيه کلبی ؓ بيرته راغلی او دا ټول حالات يې پاچا ته وړاندی کړل پاچا وويل زه هم له دی ويريږم چې خلک به له ما سره همداسی چلند وکړی

(تاريخ طبری جلد ۳ /ص/ ۸۷ تر ۹۸،، البدايه والنهايه جلد ۴ /ص/ ۲۶۲ تر ۲۶۸ پوری ، الجواب الصحيح جلد ۱ /ص/ ۹۴، فتح الباری جلد ۱ /ص/ ۴۰) (۱)

په معجم طبرانی کې راغلی دی چې د روم پاچا دحيه کلبی ؓ ته وويل چې زه ښه پوهيږم چې محمد ﷺ د الله ﷻ پيغمبر او نبی دی لکه چې ضفاتر وويل مگر که زه داسی وکړم نو زما پاچهی ختميږی او د روم خلک ما ووژنی مگر پاچا د رسول الله ﷺ ودې ارشاد ته نه وکتل (اَسلِم تَسلِم) اسلام راوړه ته به خوندی پاته سی که يې اسلام منلی وای نو دنيا او آخرت به يې دواړه خوندی پاته سوی وو

څبره پوره کوو : د روم پاچا په ډير درناوی او احترام سره د رسول الله ﷺ ليک د سروزرو په قلمدان کې کيښودی ، اميرسيف الدين منصور وايې چې ماته يوځل منصور پاچا څه لاښودنه وکړه او د مغرب پاچا ته يې وليږلم د مغرب پاچا ديوسفارش لپاره زه د فرنگيا نپاچا ته وليږلم چې هغه بيا د قيصر د روم د مخکنی پاچا له نسل څخه وو کله چې زه

---

(۱) حافظ عسقلانی په فتح الباری کې پر دی تأمل کړی دی چې ضفاطر او د روم عالم يو عالم او که ضفاطر د روم له عالم بيل دی حافظ ليکی د طبری ددې سياق څخه کوم چې موږ وړاندی کي دامعلوميږی چې دوئ دوه کسان دی والله تعالی اعلم)

(۲) دا ټول له پيښه له پوره تفصيل سره په الجواب الصحيح کې ذکرسوی ده مگر ددې پېښي څه برخی په فتح الباری

سیف لودین کتابتون

دفرنګیانو دپاچاله لوری رارخصت کیدمه نوده دپاته کیدو ټینګارراته وکی اودایې راته وویل چی که ته پاته سی نویو ډیرلوی اونالیدلی شئ به درته وښیم زه هم پاته سوم ، ده یوصندوق راوغوښتی چی پرهغه باندی دسروزرو پټری لګیدلی وی له هغه څخه یې دسروزرو یوقلمندان راوایستی هغه یې پرانیستی یولیک یې راوایستی چی په وریښموکې پیچلی وو ډیرتوری دهغه لیک وران سوی وو پاچاوویل داستاسودپیغمبرﷺ لیک دی ، چی زموږنیکه قیصرته یې رالیږلی وو اوزموږنیکه داوصیت کړی وو چی ترڅوپوری دالیک له تاسوسره خوندی وی ترهغه وخت پوری به ستاسوپاچهی پاته وی نوځکه دخپلی پاچهی دساتلوپه نیت موږددې لیک ډیره ساتنه اواحترام کوو اوله نصاراووېې پټ ساتو

فایدی اوباریکی اورازونه !

(۱) دلیک پیل دالله ﷻ په نامه کیدل په کاردی لکه چی سلیمان ﷺ دسبا په نامه کوم لیک لیږلی وو نوپیل یې په بسم الله الرحمن الرحیم سره وکي ..

(۲)دلیک لیږونکی به خپل نوم لومړی لیکی اوچاته چی لیک لیږی دهغه نوم به وروسته لیکی لکه چی رسول الله ﷺ خپل نوم اول ولیکی او وروسته یې دروم دپاچانوم ولیکی دصحابه کرام ﷺ هم داعادت وو چی کله به یې رسول الله ﷺ ته لیک لیږی نولومړی به یې خپل نوم ولیکی (کذافی شرح البخاری للامام النووی صفحه ۸۶)

مګر دالازمی اوواجب نه ده ځکه رسول الله ﷺ علی ؓ اوخالدبن ولید ؓ یوځای ته ولیږل کله چی دوئ دواړه ورسیدل نورسول الله ﷺ ته یې لیکونه ولیږل علی ؓ درسول کریم ﷺ نوم مبارک مخکې ولیکی اوخپل نوم یې وروسته ولیکی اوخالد ؓ خپل نوم لومړی ولیکی اودرسول کریم ﷺ نوم مبارک یې وروسته ولیکی له دې ښرګنده سوه چی دواړه قسم روادی ..

عبدالله بن عمر ؓ چی کله معاویه ؓ اوعبدالملک بن مروان ته لیک ولیږی نولومړی یې دمعاویه ؓ اوعبدالملک نوم ولیکی اودغه رنګه زیدبن ثابت ؓ به چی کله معاویه ؓ ته لیک لیږی نودمعاویه ؓ نوم به یې مخکې لیکی (۲)

(۳) رسول کریم ﷺ دخپل نوم سره دعبدالله لفظ زیات کي په دې کې دعیسایانو وفاسدی عقیدی دمسیح ﷺ الوهیت باطل والی ته اشاره وه چی عیسی ﷺ معاذالله خدای نه وو بلکي دالله ﷻ بنده اودهغه عزتمند رسول وو چی الله ﷻ دخپل ځان وخواته پورته کړی دی دارنګه ودې ته اشاره ده چی څومره پیغمبران علیهم السلام راغلی دی ټولوپه دې اقرارکاوو چی موږدالله ﷻ بندګان یو معاذالله خدایان نه یو

(۴)الی هرقل عظیم الروم) دهرقل څخه وروسته دعظیم الروم لفظ زیادت کې ودې ته اشاره ده چی کله کافرانوته لیکونه لیږل کیږی نوپه ښوالفاظوا والقابوسره دی هغوئ ته وویل سی

(شرح بخاری للنووی (رح) ——————(۲)فتح الباری جلد ۸ اص ۱۶۸/

سیف لودین کتابتون

(۵) سلام علی من اتبع الهدی) سلام دی په هغه چاباندې چې دهدایت پیروي وکړي یعنی که یې ونه کړي نونه دی وی داجلمه دموسی ﷺ په قصه کې ذکرسوی ده ودې ته اشاره ده چې کافرته به مطلقا اسلام علیک نه لیکل کیږي بلکې سلام علی من ابتع الهدی لیکل په کاردی معنی چې پرتادی سلامتیاوي په دې شرط چې دهدایت پیروي وکړي لکه چې په قرآن کریم کې وروسته داسې جمله راغلې ده (وَاَنَّ الْعَذَابَ عَلٰی مَنْ کَذَّبَ وَتَوَلّٰی) اوپه حدیث شریف کې دسلام علی من ابتع الهدی وروسته داجمله راغلې ده (فان تولیت الخ) نودادحدیث جمله د(وان العذاب علی من کذب وتولی)پرځای ده

(۶) اسلم تسلم یؤتک الله اجرک مرتین) اسلام ومنه سالم به پاته سې اوالله تعالی به تاته دوه اجرونه درکړي ، یواجربه تاته دخپل مخکنی نبي باندې دایمان راوړلوپه وجه درکړي اوبل اجرپرنبي اخرالزمان ﷺ باندې دایمان راوړلوپه وجه درکړي لکه چې الله تعالی فرمایې (اُولٰئِکَ یُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَرَّتَیْنِ)

(۷) فَاِنْ تَوَلَّیْتَ فَاِنَّ عَلَیْکَ اِثْمُ الْاَرِیسَنَ) ژباړه : که ته ایمان نه راوړې نودټول اولس ګناه به ستاپرغاړه وي ،، ځکه کوم سړی چې دچادګمراهی لامل وګرزي دهغه ګناه هم دهغه په غاړه ده لکه چې الله تعالی فرمایې : وَلَیَحْمِلُنَّ اَثْقَالَهُمْ وَاَثْقَالًا مَعَ اَثْقَالِهِمْ) خامخابه داکافران دخپلو ګناهوپیټي پورته کوي اودنورو دابه هم له خپلوسره یوځای پورته کوي

(۸) دحیه کلبي ﷺ ته لیک ورکول اویواځې دده لیږل ددې دلیل دی چې لیک حجت اومعتبردی اوبل داچې خبرواحدحجت اوسنددی که دیوی سړی خبرمعتبرنه وای نویواځې ددحیه ﷺ دلیږلو څه فایده (کذاقاله الامام النووی فی شرح البخاری)

(۹) اوبل داچې له دې معلومیږي چې مستور الحال روایت دمنلووړدی ترڅوپورې چې څه علامه دهغه په دروغواوخطاباندې نه وي ځکه دحیه ﷺ دهرقل په حق کې مستورالحال وو

(۱۰) هرقل پاچاپه دې ښه پوهیدی چې محمد ﷺ دالله ﷻ رسول اوهغه نبي دی چې عیسی ﷺ دهغه دراتلوزیري ورکړي دي مګر اسلام یې نه ومنی له دې څرګندیږي چې ایمان دعلم اوپوهی نوم نه دی بلکې دمنلواوغاړه ایښودلونوم ایمان دی نوځکه که یوسړي نبي کریم ﷺ نبي بولي مګر منی یې نه هغه سړی هیڅکله مسلمان نه دی لکه چې دمحقیقین علماء قول همدادی چې صحیح خبره داده چې دروم پاچا هرقل اسلام نه دی راوړی په مسنداحمدبن حنبل کې راغلي دي چې هرقل دتبوک څخه یولیک نبي کریم ﷺ ته ولیږی چې په هغه لیک کې لیکلي وو چې زه مسلمان یم رسول الله ﷺ وفرمایل چې داسړی دروغجن دی تراوسه په خپل نصرانیت باندې پاته دی ..

دخسروپرویز کسری دفارس باچاپه نامه لیک مبارک دهجرت اووم کال !

بسم الله الرحمن الرحیم ، من محمدرسول الله ﷺ الی کسری عظیم فارس سلام علی من اتبع الهدی وآمن بالله ورسوله وشهدان لااله الاالله وحده لاشریک له اون محمداعبده

سیف لودین کتابتون

ورسوله ادعوک بدعاية الله عزوجل فاني انا رسول الله الى الناس (۱) كُلّهُم لانذر من كان حيا ويحق القول على الكافرين اسلم تسلم فان توليت فعليك اثم المجوس)

ژباړه : پيل کوم په نامه دالله ﷻ چې ډېرمهربان اوبښونکی ذات دی ، داليک دمحمدرسول الله ﷺ له لوري شخه دفارس پاچاکسرى ته دى ، سلامتيادى پرهغه چاوى چې دهدايت پيروي وکړي اوپه الله ﷻ اودهغه په رسول ﷺ باندى ايمان راوړي اوشاهدى ورکړي چې دالله ﷻ شخه پرته بل څوک دعبادت لائق نسته الله ﷻ يودى دهغه هيڅ شريک نسته اومحمد ﷺ دالله ﷻ بنده اودالله ﷻ رسول دی زه تادالله ﷻ په حکم دالله ﷻ دين ته رابولم زه دالله رسول ﷺ يم ټولوخلکوته ددې لپاره چې وبيروم هغه سړي چې دهغه زړه ژوندى وى اوپوره سي حجت دالله ﷻ په نه منونکوباندى اسلام رواړه روغ به پاته سى اوکه دى مخ واړوى نودټولو مجوسو ګناه به ستاپرغاړه وى ..

رسول کريم ﷺ داليک عبدالله بن حذافه سهمي ﷺ ته ورکى اوکسرى ته يې ليږى کسرى ته چې کله درسول کريم ﷺ ليک ورسيدى هغه سمدستي له غصى تک سور سو اوليک څيرى کى اودايې وويل چې دى سړى ماته ليک راليږلي دى ، په ته پرماباندى ايمان راوړه اوسره له دى چې داسړى زمامريئ دى ، عبدالله بن حذافه سهمي ﷺ راغلي اورسول الله ﷺ ته يې قصه بيان کړه رسول کريم ﷺ وفرمايل دکسرى ملک اوپاچهي ټوټې ټوټې سوه کسرى سمدستي ديمن والي باذان ته ليک وليکى چې ته سمدستي دوه تکړه خلک حجازته وليږه چې دوئ هغه سړى چې ماته يې ليک راليږلي دى ونيسى اوماته يې راولى ، ديمن والي باذان هم سمدستي دوه تنه مخورخلک رسول کريم ﷺ ته وليږل اويوليک يې ورکى دوئ ليک راواخيستى اورسول کريم ﷺ ته راغلوکله چې دوئ دنبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضرسو دنبوت ددرباپه ليدوسره له عظمت اوويرى سره هغه ليک ورسول کريم ﷺ ته وسپاري رسول کريم ﷺ چې کله ليک ولوستى مسکى سو اودواړوته يې داسلام بلنه ورکړه او ورته وې فرمايل چې تاسوصباراسى په دويمه ورځ دوئ درسول کريم ﷺ په خدمت کې حاضرسو رسول الله ﷺ ورته وويل ، چې نن شپه په فلانکى وخت کې په کسرى باندى دده زوى شيرويه مسلط سو اوشيرويه کسرى قتل کې دهجرت داووم کال دځلورمى خور لسمه دسه شنبه شپه وه رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو ولاړسى اوباذان ته داټول حالات بيان کى اوورته وې فرمايل چې وباذان ته داهم ووايا ست چې زمادين اوزماپاچهي به ترهغه ځايه رسيږى ترکومه ځايه چې دکسرى پاچهي رسيدلى ده دوئ ولاړل اوباذان ته يې داپيښنه بيان که باذان ددې خبر په اوريدوسره وويل داخبره خودپاچهانوپه شيرنه ده که داخبره صحى وى نوقسم په الله ﷻ هغه رښتينى نبي ﷺ دى . په همدغه وخت کې دشرويه له لوري دوه تنه راغلواودکسرى دمرګ خبرې راوړي ، باذان له خپلى ټولى کورنى اوملګرواودوستانوسره په اسلام مشرف سو اودخپل اسلام راوړلوخبرې رسول الله ﷺ ته وليږي

---

(۱) لکه چې الله تعالى فرمايي : قُلْ يَاأَيُّهَا النَّاسُ اِنِّي رَسُوْلُ اللهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا)
(۲) په دې ليک کې يې (يُؤتِکَ اللهُ اجرک مرتين) نه دی ليکلی ځکه کسرى داورعبادت کوى دهيڅ اسمانى کتاب اوپيغمبرپيروى يې نه کوله ځکه دوواجب ومستحق نه وو، زرقاني جلد ۳ /ص/ ۳۴۱)

سیف لودین کتابتون

دحبشه دپاچا نجاشي په نامه لیک مبارک!

بسم الله الرحمن الرحیم من محمد رسول الله ﷺ الی النجاشی ملک الحبشه سلام علی . امابعد فانی احمد الله الذی لااله الاهو الملک القدوس السلام المؤمن المهیمن واشهدان عیسی بن مریم روح الله وکلمة القاها الی مریم البتول الطیبة الحصینة دحملت بعیسی فخلقه الله من روحه ونفخه کماخلق ادم بیده وانی ادعوک الی الله وحده لاشریک له والموالاة علی طاعته وان تتبعنی وتؤمن بالذی جائنی فانی رسول الله وانی ادعوک وجنودک الی الله تعالی فقد بلغت ونصحت فاقبلوا نصیحتی والسلام علی من ابتع الهدی)

ژباړه : پیل کوم په نامه دالله ﷻ چې ډیر مهربان اوبښونکی دی دالیک دمحمد رسول الله ﷺ له لوری شخه دحبشه دپاچانجاشي ولوری ته دی سلام دی وی پرماباندی وروسته زه حمداوثناء وایم دهغه الله ﷻ چې له هغه پرته بل هیڅ معبود نشته هغه رښتینی پاچادی دټولوعیبو شخه پاک دی امن ورکونکي دی اودټولوساتونکی دی اوشاهدی ورکوم چې عیسی علیه السلام دمریم زوی اودالله ﷻ خاص روح اودهغه کلمه ده چې الله تعالی پاکی مریم ته ورکړ وروسته بیاداامیدواره سوه په عیسی علیه السلام سره الله تعالی هغه په خپل خاص روح اوپوکی سره پیداکي لکه چې آدم علیه السلام یې په خپل لاس پرته له مور اوپلاره پیداکړی دی زه تادالله ﷻ وخواته رابولم چې هغه یودی هیڅوک له هغه سره شریک نسته اودهغه پیروی وکړه اودهغه له عبادت سره مینی ته دې رابولم اودې خبری ته چې کوم شئ دالله ﷻ له لوری ماته راغلی دی یعنی قرآن پرهغه باندی ایمان راوړه رښتیاهم زه دالله ﷻ رسول ﷺ یم زه تااوستاټول لښکردالله ﷻ وخواته رابولم مادالله ﷻ پیغام ورسوی اوسمه لارمی دروښوده او زمانصیحت ومني اوسلامتی دی وی پرهغه چاباندی چې دسمی لاری پیروی وکړی ..

عمروبن امیه ضمری رضی الله تعالی عنه ته یې دالیک ورکي حبشه ته یې و لیږی ،
عمروبن امیه رضی الله عنه درسول الله ﷺ لیک باچاته ورسوی اوپاچاته یې وویل اې اصحمه زه تاته څه وینا کوم هیله لرم چې ته به یې په غوراوفکرسره واوری ، زموږ په تاباندی باور اوډاډ دی اوپرتاباندی ښه ګمان لرو موږ چې کله ستاشخه دکوم خیر اونیکی هلیه کړی ده نوهغه نیکی موږ ته رسیدلی ده ستادامن په سایه کې موږته هیڅ ویره نده پیښه سوی انجیل چې دهغه حجت کیدل تاته دریادوم هغه زموږاوستاسوترمینځ دریم اوشاهددی چې دهغه شاهدی نه سی ردکیدای اوداسی قاضی اوحاکم دی چې په خپله پریکړه کې دعدل اوبرابری شخه تیری نه کوی که تادابلنه ونه منله نوته به ددې نبی امی ﷺ په حق کې داسی ثابت سی لکه یهود دعیسی علیه السلام په حق کې ،رسول الله ﷺ خپل استازی اوسفیران نوروپاچهانوته هم لیږلی دی مګر دنورو خلکوپه پرتله موږ لتاډیره هلیه اوامیدلرو ..

(۱) البدایه والنهایه جلد ۴ /ص /۲۶۸..۲۷۲، زرقانی جلد ۳ /ص /۳۴۲)

سیف لودین کتابتون

دحبشه دباچانجاشي خوب :

نجاشي وویل زه شاهدي ورکوم اوقسم خورم چې رسول اللهﷺ هغه نبي اميﷺ دی کوم چې اهل کتاب دهغه انتظارکوی اوځنګه چې موسیؑ په راکب الحمار سره دعیسیؑ زیری ورکړی دی دغه شان یې په راکب الجمل سره دمحمدرسول اللهﷺ زیری ورکړی دی اوزمادهغه دنبوت اورسالت دومره یقین دی چې له سترګولیدلوڅخه وروسته به هم زماپه یقین کې زیادت نه راځي لکه چې دیوشمیرنیکوخلکوداخبره ده (لوکشف الغطاء ماازددت یقیناً) که ټولی پردی پورته سی نوبیابه هم زماپه یقین کې بدلون اوزیادت رانه سی .اودرسول اللهﷺ لیک مبارک یې په سترګوموښي اوله تخته راکښته سو پرځمکه کېنستی اسلام یې ومنی اودحق شاهدي یې ورکړه اودرسول اللهﷺ دلیک ځواب یې داسی ولیکی

دحبشه دباچانجاشي له لوری درسول الله صلی الله علیه وسلم دلیک ځواب ..

بسم الله الرحمن الرحیم ، الی مُحمّدرسول اللهﷺ من النجاشي الاصحم بن ابجز سلام علیک یانبی الله ورحمة الله وبرکاته . احمدالله الذی لااله الاهوالذی هدانی للاسلام امابعدفقدبلغنی کتابک یارسول الله فماذکرت من امرعیسی فوربّ السماء والارض ان عیسی مایزیدعلی ماذکرت ثُغرُفاً انه کماقلت وقدعرفناما بعثت به الینا وقدقرینا ابن عمک واصحابه فاشهدانک رسول الله صادقا مصدقا وقدبایعتک وبایعت ابن عمک واسلمت علی یدیه لله رب العالمین وقدبعثت الیک یانبی ارها ابن الاصحم بن الاجز فانی لااملک الانفسی وان شئت ان اتیک فعلت یارسول فانی اشهدان ماتقول حق والسلام علیک یارسول الله)

ژباړه : پیل کوم په نامه دالله ﷻ چې ډیرمهربان اوبښونکی دی دالیک دنجاشي اصحم دابجز زوی له لوری ومحمدرسول اللهﷺ ولوری ته دی سلام دی وی په تاباندی اې دالله پیغمبرﷺ اورحمتونه اوبرکتونه دی وې دالله تعالی پرتاباندی زه ثنااوصفت کوم دهغه الله ﷻ چې هغه ماته داسلام لارښوونه اوتوان راکي یارسول اللهﷺ ستالیک ماته راورسیدی دعیسیؑ په هکله چې تاڅه ویلی دی قسم دځمکی اواسمانوپه پالونکي باندی چې عیسیؑ تردې دیوی ذری په اندازه زیات نه دی ښتیاهم دهغه شان هم هغه دی کوم چې تاپادکړی دی ته چې په کوم دین موږته رالیږل سوی یې موږهغه وپیژندی اوستادآکازوی اودهغه ملګرومیلمستیاموو کړه وروسته زه بیاشاهدي ورکوم چې ته دالله ﷻ ریښتینی رسول یې ماستاسره اوستادآکاد زوی په واسطه بیعت وکي اودهغه په لاس مې دالله رب العالمین لپاره اسلام راوړی ستاپه خدمت کې خپل زوی ارهابن اصحم درلیږم زه یوازې دخپل ځان واک لرم که ته غواړی نوزه به خپله ستاپه خدمت کې حاضرسم ځکه یارسول اللهﷺ زه داشاهدي ورکوم چې ته څه وایې هغه بیخي حق دی سلام دی پرتاباندی اې دالله رسولهﷺ ..

نجاشي خپل زوی دحبشه له شپیته کسانوسره په یوه کښتۍ سپورکي اودرسول الله صلی الله علیه وسلم ولوری ته یې ولیږی مګر هغه بیړۍ په لاره کې ډوبه سوه ،

سیف لودین کتابتون

دا نجاشي هغه نجاشي دی چې دده وهیواد ته مسلمانانو په کال پنځم ۵ هجری کې هجرت کړی وو دهغه نوم اصحمه دی دجعفر﵁ په لاس یې ایمان راوړی وو او کله چې په کال ۹ نهم هجری کې هغه وفات سو په کومه ورځ چې هغه وفات سو نو رسول اللهﷺ په مدینه منوره کې دهغه دوفات خبر ورکي او دجنازی دلمانځه ځای ته له صحابه کرام﵁ سره یو ځای ولاړی او غائبانه یې دجنازی لمونځ پری وکي ..

ترهغه نجاشي وروسته چې کوم نجاشي دهغه ځای ناستی سو رسول اللهﷺ د اسلام بلن لیک دهغه په نوم هم ولیږی چې هغه امام بیهقي له ابن اسحاق څخه روایت کړی دی هغه لیک دادی : من النبی محمد صلی الله علیه وسلم الی النجاشی الاصحم عظیم الحبشة سلام علی من اتبع الهدی وآمن بالله ورسوله وشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له لم یتخذ صاحبة ولا ولد وان محمدا عبده ورسوله وادعوک بدعایة الله فانی انا رسوله فاسلم تسلم یا اهل الکتاب تعالوا الی کلمة سواء بیننا وبینکم ان لا نعبد الا الله ولا نشرک به شیئا ولا یتخذ بعضنا بعضا اربابا من دون الله فان تولوا فقولوا اشهدوا بانا مسلمون فان ابیت فعلیک اثم النصاری من قومک)

ژباړه : دا لیک د محمد صلی الله علیه وسلم له لوری دحبشه پاچا نجاشي ته دی ، سلام دی وی په هغه چا چې دسمی لاری پیروی یې وکړه او دالله ﷻ او دهغه په رسولﷺ باندی یې ایمان راوړی او شاهدی یې ورکړه چې الله یو دی دهغه سره هیڅوک شریک نسته نه دهغه ښځه سته او نه اولاد او شاهدی یې ورکړه چې محمدﷺ دالله ﷻ بنده او دهغه رسول دی زه تاته دالله ﷻ په حکم بلنه درکوم ربښتیا هم زه دالله ﷻ رسولﷺ یم اسلام راوړه روغ به پاته سی اې اهل کتابو راسی یوی پاکی او سمی خبری ته چې هغه زموږ او ستاسو ترمینځ منلی سوی ده هغه دا چې پرته له الله ﷻ به دبل هیچا بندګی نه کوو او له هغه سره به هیڅوک شریک نه نیسو او په خپل مینځ کې به یو دبل څخه خدای نه جوړوو که چیری دوئ سرغړونه وکړی نو ته ورته ووایه چې موږ خو مسلمانان یو او دالله ﷻ بندګان یو اې نجاشي که ته د اسلام له منلو انکار وکړی نو ستا د قوم نصارا او ټول ګناه به ستا په غاړه وی .

دحبشه دویم پاچا چې دئ هم نجاشي نومیدی اسلام راوړل نه دی ثابت یوائې دهغه نوم معلوم سو ، حافظ ابن کثیر وایې چې دا نجاشي دهغه نجاشي څخه بیل دی کوم چې دجعفر﵁ په لاس باندی مسلمان سوی دی ، خبره پای ته ورسیده .. یو شمیر خلکو دوئ دواړه یو ګڼلی دی دصحیح مسلم له روایت ښکاره دا معلومیږی چې دنجاشي په نامه دحبشي دوه پاچهان دی په دې دویم لیک کې چې دنجاشي سره د اصحمه لفظ یاد سوی دی هغه دراوی وهم دی ، اصحمه دلومړنی نجاشي نوم دی راوی دوئ دواړه یو ګڼلی دی ځکه یې د اصحمه لفظ په غلطی سره زیات کړی دی (والتفصیل فی الزرقانی جلد ۳ ص ۳۴۶)

سیف لودین کتابتون

دمصر او اسکندریه دپاچا مقوقس په نامه داسلام بلن لیک مبارک

بسم الله الرحمن الرحیم ، من محمد عبدالله ورسوله الی المقوقس عظیم القبط سلام علی من اتبع هدی الاسلام اسلم تسلم یؤتک الله اجرک مرتین فان تولیت فعلیک اثم القبط یااهل الکتاب تعالوا الی کلمة سواء بیننا وبینکم ان لانعبدوا الاالله ولانشرک به شیئا ولایتخذ بعضنا بعضاً ارباباً من دون الله فان تولوا فقولوا اشهدوا بانا مُسلِمون)

ژباړه : پیل کوم په نامه دالله ﷻ چې ډیر مهربان اوبښونکی دی ، دالیک دمحمد ﷺ چې دالله بنده اودهغه رسول دی له لوری شخه دی ومقوقس چې دقبطیانو دپاچادی سلام دی وی په هغه چاباندی چې دسمی لاری پیروی وکړی زه تاته داسلام بلنه درکوم اسلام راوړه سالم به پاته سی اوالله تعالی به تاته دوه ځله بدله درکړی اوکه تاله دې بلنې مخ واړوې نودټولو قبطیانودحق نه قبلولو ګناه به ستاپرغاړه وی ای اهل کتابو راسی داسی سمی خبری ته چې هغه زموږ اوستاسوترمینځ منل سوی ده هغه داچې له الله ﷻ پرته به دبل هیچابندګی نه کوو اوهیڅوک به دهغه سره نه شریک کوواوپه موږ کې به یوبل خدایان نه جوړوو پرته له الله ﷻ نوکه دوئ له دې مخ واړوی ته ورته ووایه چې تاسوشاهدسی چې موږ مسلمانان اودالله ﷻ منونکی یو

مهریې پروونهی اوحاطب بن ابی بلتعه رضی الله تعالی عنه ته یې ورکي چې داواخله اودمصرپاچاته یې ورسوه ، حاطب بن ابی بلتعه ﵁ درسول الله ﷺ لیک واخیستی اوروان سو کله چې مصرته ورسیدی دمصرپاچااسکندریه ته تللی وو حاطب ﵁ اسکندریه ته ورپسی ولاړی کله چې هلته ورسیدی نووې لیدل چې پاچادسیندپرغاړه دیوی لوړی کوټې په کلیکین کې ناست دی حاطب ﵁ له لاندی اشاره ورته وکړه چې له ماسره یوپیغام دی پاچادئ وروغوښتی دننه ورغلی حاطب ﵁ چې کله ورغلی اودرسول الله ﷺ پیغام یې ورته ورسوی پاچاپه ډیر درناوی اوقدر سره درسول الله ﷺ لیک واخیستی اووې لوستی (زرقانی جلد ۳ /ص /۳۴۷) (۱)

حاطب ﵁ وایې چې وروسته داسکندریه پاچادمیلمستیاپه ډول ماته یوسرای راکي اوهلته میشت سوم یوه ورځ یې ټول مشران اوعلماء راوغوښتل ماته یې وویل چې زه له تاڅخه پوښتنی کوم ښه په فکراوغورسره دهغو ځواب راکړه ؟

حاطب ﵁ وایې ماورته وویل سمه ده . **دمقوقس سوالونه اودحاطب ﵁ ځوابونه :**

مقوقس وویل دچالیک چې تاراوړی دی آیاهغه نبی ﵇ نه دی ؟

حاطب ﵁ وویل ولی نه هغه خودالله رسول ﷺ دی .

مقوقس : که هغه رښتیادالله ﷻ رسول وای نوپه کوم وخت کې چې دهغه قوم دئ له مکی څخه وشړی نوپه دغه وخت کې ده ولی ددوئ په حق کې ښیراونه کړه چې دوئ ټول هلاک سوی وای ؟

(۱) الخصائص الکبری جلد ۵ /ص /۱۲، زرقانی جلد ۳ /ص /۳۴۸)

سیف لودین کتابتون

حاطب : ورته په خوب کې وويل آياته دديّ شاهدي نه ورکوي چې عيسى بن مريم عليه السلام دالله رسول دی مقوقس وويل هو حاطب رضي الله عنه وويل نوکله چې دهغه دښمنانو هغه په دارکولو نيت وکې نو مسيح عليه السلام په دغه وخت کې ددوی په حق کې ولې ښيرانه کوله چې الله جل جلاله دوی هلاک کړي وای تردې پورې چې الله تعالى عيسى عليه السلام دخپل ځان وخواته پورته کي ...مقوقس : رښتيا هم ته حکيم او دحکيم له لوري راغلی يې ..

حاطب رضی الله تعالى عنه دمقوقس په دربارکې ويناوکړه ..

مقوقس دحاطب رضي الله عنه داحکيمانه ځواب واوريدی نوغلی کينستی تردی وروسته حاطب رضي الله عنه پاچاته ويناوکړه اوپه نصحيت کې يې داسې يې ورته وويل .

اې پاچاته په دې خبريې چې يوسړی دمصرپه همدی ښارکې مخکې تيرسوی دی هغه دادعوه کوله چې زه رب يم الله تعالى هغه راونيوی اوسزايې ورکړه اوهلاک اوبربادې کی تاته هم په کاردی چې له هغه څخه پندواخلی داسې ونه سې چې نورخلک بيا له تاعبرت اخلي اسلام داسې دين دی چې ستاسوتردين ډير غوره دی دهغه په اړوندالله تعالى ژمنه کړی ده چې هغه به پرټولوادیانوبرلاسی کوی اوټول دينونه به دده په وړاندې منسوخ کيږی دادی دالله جل جلاله پيغام راوړونکی راوليږل سو خلکوته يې ددی دين بلنه ورکړه په دې اړه قريش ترټولوډير سخت وو اويهوديادديّ دين ترټولوسخت دښمنان سو اونصارا عيسايان ترټولونژدی ثابت سو قسم په الله جل جلاله لکه څنګه چې موسى عليه السلام دعيسى عليه السلام زيری ورکړی دی همداسې عيسى عليه السلام دمحمدرسول الله ﷺ زيری ورکړی دی په دواړوکې هيڅ فرق نسته (۱) اومونږ تاسوقرآن ته رابولوداداسې مثال لری لکه انجيل منونکې چې دتورات منونکې رابولی ، کوم قوم چې دهرنبی په وخت کې وی هغه قوم دهغه نبی اُمت دی دهغوئ په ذمه لازمه ده چې دهغه نبی عليه السلام پيروی وکړی اواې پاچاته هم دهغه خلکوڅخه يې چې ددې نبی عليه السلام په وخت کی يې اومونږ تادمسيح عليه السلام له دين څخه نه منع کوو بلکې دادرته وايو چې دمسيح عليه السلام خبره ومنی ..

دمصرپاچامقوقس دتقريرپه اړه حاطب رضي الله عنه ته ځواب ورکوی

مقوقس پاچاوويل مادديّ نبی عليه السلام په اړه ښه غوراوفکر وکې اوپه دې پوه سوم چې هغه دغوره شيانوحکم کوی اودناوړه شيانوڅخه منع کوی د بدوکاروحکم نه ورکوی اودرغبت دشيانوڅخه منع نه کوی جادوګر اوګمراه نه دی کاهن (جوګی) اودروغجن نه دی دنبوت نښی مې په هغه کې وليدی مثلاً دهغه دغيب خبرورکول اوپه دې اړه به بيافکرکوم اودرسول الله ﷺ ليک يې دپيل په غاښ جوړسوی دبلی کې خوندی کی اوخازن ته يې حکم وکې چې دا ښه خوندی وساته اويوليکونکې يې راوغوښتی په عربی ژبه يې درسول الله ﷺ دليک ځواب وليکی هغه ځواب داسې وو

(۱) څنګه مسيح عليه السلام په خپله درسول الله ﷺ زيری ورکړی دی (وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِ اسْمُهُ أَحْمَدُ) اودهغه ددين دمنلو

سیف لودین کتابتون

دمصر د پاچا مقوقس له لوري دليک ځواب !

بسم الله الرحمن الرحيم . الى محمد بن عبدالله من المقوقس عظيم القبط سلام عليک . امابعد فقد قرأت كتابک وفهمت ماذكرت فيه وماتدعو اليه فقد علمت ان نبياقد بقي وكنت اظن ان يخرج من الشام وقد اكرمت رسولک وبعثته اليک بجاريتين لهمامن القبط مكان عظيم وكسرة واهديت اليک بعلة لتركبها والسلام)

ژباړه : پيل کوم په نامه دالله ﷻ چې ډير مهربان اوبښونکي دی ، داليک دمحمد بن عبدالله ﷺ ولوري ته دی دقبطيانو دمشر مقوقس له لوري ځخه سلام دی وی په تاباندی ، وروسته له دی ماستاليک ولوستی اوپوه سوم اودده مضمون اوهغه څه چې هغه ته تابلنه ورکړی ده پوه سوم زمايقين وو چې يونبی پاته دی خوزمافکردادوو چې کيدای سی هغه په شام کی وی ماستاداستازی ډير درناوی اوعزت وکی دوې مينځی اوڅه جامی اويوه قچره مې ستالپاره ډالۍ درولیږل ،په درناوی پرتادی سلامتیاوی ..

ديوی وينځی نوم ماريه قبطيه وه دادرسول کريم ﷺ په حرم کې داخله سوه درسول کريم ﷺ زوی ابراهيم دهغې له نسه پيدا سوی دی اوددويمی نوم سيرين وه چې هغه حسان بن ثابت ﷺ ته ورکړل سوه اودقچری نوم دُلدُل وه

مقوقس درسول الله ﷺ داستازی ډير درناوی وکړ اودرسول الله ﷺ دليک يې ډير درناوی وکي اواقراريې وکړچی رښتياهم داهغه نبی ﷺ دی چې مخکنيوانبياء عليهم السلام يې زيری ورکړی دی مګر ايمان يې رانه وړی په نصرانيت باندی پاته سو ،

حاطب ﷺ چې کله مدينی ته راورسيدی نورسول الله ﷺ ته يې قصه بيان که رسول کريم ﷺ وفرمايل چې دپاچهی له کبله يې اسلام ونه منی دهغه پاچهی نسی پاته کيدای لکه چې دعمرفاروق ﷺ دخلافت په وخت کې مسلمانانوفتح کي (الجواب الصحيح للحافظ ابن تيميه جلد ۱ /ص /۹۰ ترصفحه ۱۰۰، اوزرقانی جلد ۳ /ص /۳۴۸ ،، روض الانف جلد ۲ /ص /۳۵۵ ،، وهداية الحيارى صفحه ۳۳)

مقوقيس ددې ليک تر رسيدومخکې درسول الله ﷺ حالات له مغيره بن شعبه ځخه پوښتلی وو مغيره وايې چې زه اودبنی مالک قبيلی څونورکسان مصرته تللی وو کله موږ په مصرکې وو دمصرپاچامقوقس موږ ورو غوښتلواوڅوپوښتنی يې راځخه وکړی هغه پوښتنی دادی :

مقوقس : ستاسوپه هيوادکې کومه نوی خبره سته ؟

مغيره : هويوځوک دمحمد ﷺ په نامه راپاڅيدلی اودعوه يې کړی ده چې زه نبی يم هغه يونوی دين راوړی چې زموږ دپلرواونيکه ګانوله دين خلاف دی اودپاچادين هم نه دی

مقوقس : دده قوم له ده سره څه وکړل ؟

مغيره : ډيروځوانانودهغه پيروی وکړه اوسپين ږيرو يې مخالفت وکی له نه منونکوسره يې جګړه وکړه کله يې بری اوکله ماته په برخه وی

مقوقس : هغه څه شئ ته خلک رابولی ؟

سیف لودین کتابتون

مغیر: دیوه الله ﷻ وبندګی ته اووایې چې له هغه سره څوک مه شریک کوی دکوموبتانوچې زموږ پلرواونیکونوعبادت کوی هغه پرېږدی اولمونځ کوی زکوة ورکوی

مقوقس: آیادلمانځه لپاره معلوم وخت اودزکوة لپاره معلومه اندازه سته؟

مغیر: په شپه اوورځ کې پنځه لمنځونه کوی اوپه شل مثقال سروزروکې نیم مثقال زکوة یعنی دمال څلویښتمه برخه زکوة ورکوی.

مقوقس: زکوة چې واخلی څه په کوی؟

مغیره: په بې وزلواومسکینانویې ویشی، اوله دې پرته دخپلوی اوژمنی دپوره کولوامرکوی دزنا، اوشرابودحراموالی امرکوی اوهغه ځاروی چې دالله ﷻ په نوم نه وی حلال سوی هغه نه خوری

مقوقس: رښتیاهم داهغه نبی مرسل ﷺ دی دټول نړۍ لپاره رالیږل سوی دی عیسی ﷺ به ددې خبروحکم کوی اوترهغه مخکې ټولوانبیاء علیهم السلام به هم ددې خبروښودنه کوله اوپه پای کی به بریالیتوب هم دده په برخه وی تردې اندازی چې هیڅوک به دهغه مخنیوی نه سی کولای اودځمکی وپلوته به دده دین رسیږی.

مغیره: که ټوله دنیاهم په ده باندی ایمان راوړی خوموږبه په ده باندی ایمان نه راوړو

مقوقس: تاسوناپوه اوکم عقله یاست ښه داراته ووایه چې دهغه نسب څنګه دی؟

مغیر: دهغه نسب ترهرچاغوره اولوړدی

مقوقس: انبیاء علیهم السلام تل ترهرچادلوړاوعزتمندو کورنۍ څخه سوی دی

مقوقس: دهغه درښتیاویلوپه اړه څه راته ووایه؟

مغیره: هغه دومره رښتینی دی چې په ټولوعرب آمین ورته وایې

مقوقس: تاسوپه دې اړه ښه غوراوفکر وکې چې داڅنګه کیدای سی چې یوسړی بندګانوته رښتیاوایې اوهغه دې په الله ﷻ باندی دروغ وتړی..

مقوقس: دهغه ددین منونکی څنګه خلک دی؟

مغیر: ډیریې ځوانان دی

مقوقس: تررسول کریم ﷺ مخکې چې څومره انبیاء علیهم السلام تیرسوی دی دهغوئ پیروی کونکی هم ډیر ځوانان وو (۱)

(۱) ځکه پخوانی خویونه اوعادتونه په سپین ږیروکې پاخه اوټینګ وی دوئ ته خپل عادت اورواج پرېښودل ډیر ګران دی (ان الغصون اذا لاتیها اعدلت ... ولن یلین اذا لاینته خشب) دونی څانګکی چې نوی وی هغه سیده کیدای سی، مګر کله چې غټې سی بیا دهغو سیده کول نه سی کیدای، ځکه دمکی ډیر ځوانان دبعثت په پیل کې په اسلام مشرف سوی دی اودقریشو مشران دمکی له فتح وروسته په اسلام کې داخل سو حذیفه بن الیمان ﷺ یوه ورځ ناست اودځوانانویوټولی دنصیحت اوریدولپاره دده پرشاوخواراټول وو یوسړی ددوئ وڅنګ ته تیرسو دځوانانوپه غونډیدوسره یې وکتل له حذیفه ﷺ یې پوښتنه وکړه داځوانان دڅه لپاره راغونډسوی دی حذیفه ﷺ وویل (هل الخیر الافی الشباب) له ځوانانوپرته په بل چاکی خیرسته چې هغوئ نصیحت واوری او وروسته یې وفرمایل آیاتادالله تعالی دالارښودنه اوریدلې ده (قالوا سمعنا فتی یذکرهم یقال له ابراهیم انهم فتیة آمنوا بربهم قال لفتاه اتنا غدائنا) الله ﷻ هیڅ یوه نبی ﷺ نه دی رالیږلی مګر کله چې دهغه ځوانی پوره سوی وی یعنی څلویښت کالوته رسیدلی وی (کما قال الله تبارک وتعالی (اذا بلغ اشده وبلغ

سیف لودین کتابتون

دیثرب یهودیانو له هغه سره څه معامله وکړه هغوئ خو اهل تورات دی ؟

مقوقس : مخالفت یې وکړ دهٔ له هغوئ څخه ځوک ووژل او ځوک یې بندیان کړه او ځوک یې

مغیره : له هیواده وشړل .

مقوقس : یهود خو ډېر کینه کښ خلک دی یهود وله ده سره کینه وکړه که داسی نه وی

نو دوئ په دې ښه پوهېږی چې دارښتینی نبی علیه السلام دی .

مغیره وایې موږ چې کله دپاچا خبری واوریدلې نو دباندی راووتلو او په خپل زړو کې

موداوویل چې دعجمو پاچهان هم دمحمد رسول الله ﷺ تصدیق کوی او سره له دی چې دوئ

له هغه ډېر لیری دی او موږ خو دده خپلوان او ګاونډیان یو موږ تر او سه پوری دهغه په دین

کې نه یو داخل سوی سره له دی چې دئ زموږ کورو ته راغلی او موږ ته یې داسلام بلنه

راکړه دپاچا خبر و زما په زړه کې اثر وکی زه یو څو ورځی په اسکندریه کې پاته سوم په

کلیسا ګانو وګرزیدم هیڅ یوه داسی کلیسا به نه وی پاته سوی چې هغې ته دې زه نه یم

ورغلی او دهغو له پادریانو څخه مې درسول الله ﷺ دصفت او شان پوښتنه نه وی کړې په

پای کې زه ددوئ اسقف اعظم (لوی پادری) ته ورغلم کله چې مې هغه ولیدی هغه ډېر

عابد او پرهیزګاره سړی وو خلکو به دته ددعا لپاره مریضان راوستل ما له هغه پوښتنه وکړه

چې آیا له دې وروسته بل نبی راځي پادرې په ځواب کې راته وویل :

(نعم هو آخر الانبیاء لیس بینه وبن عیسی بن مریم علیه السلام احد وهو نبی مرسل وقد امرنا عیسی علیه السلام باتباعه وهو النبی الامی العربی اسمه احمد ﷺ لیس بالطویل ولا بالقصیر ولا بالابیض ولا بالادم یعض شعره ویلبس ماغلظ من الثیاب ویجزی بمالقی من الطعام سیفه علی عاتقه ولایبالی بمن لاقی یباشر القتال بنفسه ومعه اصحابه یفدونه بانفسهم هم له اشد حبا من اولادهم یخرج من ارض حرم ویأتی الی حرم الارض سباخ ونخل یدین بدین ابراهیم علیه السلام)

ژباړه : هو هغه آخری نبی دی دده او عیسی علیه السلام ترمینځ بل نبی نسته هغه نبی مرسل دی عیسی علیه السلام موږ ته دهغه دپیروی کولو حکم کړی دی هغه نبی امی عربی دی دده نوم احمد ﷺ دی نه اوږدی قد والادی او نه کوچنی قد والادی میانه قد ه دی دده په سترګو کې سوروالی دی داسی هغه پنډی جامی اغوندی څومره خوراک چې ورته رسیږی په هغه بسنه کوی او صبر کوی دهغه پر اوږو به توره وی دهیچا دمقابلې پروا به نه کوی په خپله به جهاد کوی او دده ملګری به په ځان او مال سره به پرده ځان قربانوی تر خپل اولاد به هم له ده سره ډېره مینه لری هغه نبی به په حرم مکه کې ښکاره کیږی او اسی ځای ته به هجرت کوی چې هغه ځمکه به دښو خورما وو والاوی دابراهیم علیه السلام ددین پیروی به کوی ..

مغیره وایې ما ورته وویل دهغه څه نور صفات هم راته بیان که ؟

پادری وویل چې دهغه لنګ به بندوی خپل اندامونه به مینځی یعنی اودس به کوی تر هغه مخکې چې څومره انبیاء تیر سوی دی هغوئ یو اځې خپل قوم ته رالیږل سوی وو او دئ به ټولی دنیا ته رالیږل کیږی دځمکی ټول مخ به دده لپاره مسجد او پاک وی کله چې دلمانځه

وخت راسی او هلته او به نه وی نو بیا دئ په تیمم کولو لمونځ کوی د بنی اسرائیلو په څیر به د خپل عبادت ځای پوری پابند نه وی چی د عبادت له ځایه پرته بل ځای لمونځ نسی کولای مغیره وایې، چی ټولی خبری می ښه په غور سره واوریدی او یادمی کړی را غلم مدینی منوری ته کله چی زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم سمدستی د اسلام په کړی کې داخل سوم (۱)

د بحرین د پاچا منذر بن ساوی په نامه لیک مبارک ، !

رسول الله ﷺ علاء بن حضرمی رضی الله تعالی عنه منذر بن ساوی ته د اسلام د بلنی لپاره ولیږی او لیک یې ورکې (۲)، علاء بن حضرمی ﷺ فرمایې کله چی ما د رسول الله ﷺ لیک مبارک منذر بن ساوی ته ورسوی نو منذر ته مې وینا وکړه هغه داسی :

اې منذر، په دنیا کې ته ډیر هوښیاریې د آخرت په اړه ناپوه او ذلیل مه جوړیږه دا مجوسیت ډیر بدترین مذهب دی نه په ده کې د عربو په څیر شرافت او عزت سته او نه د اهل کتابو په څیر علم ددې مذهب خلک له هغو ښځو سره نکاح کوی چی د هغوئ په یادو لوسړی شرمیږی او هغه شیان خوری چی د هغو له خوړلو روغ طبیعتونه نفرت کوی په دنیا کې د داسی اور عبادت کوی چی د قیامت په ورځ به د دوئ خوراک وی .

اې منذر ته کم عقل او ناپوه نه یې ته ښه فکر او غور وکړه کوم ذات چی هیڅکله دروغ نه وایې د هغه په تصدیق کولو او د هغه رښتینی ګڼلو کې ستاڅه فکر دی او کوم څوک چی هیڅکله خیانت نه کوی د هغه په آمین ګڼلو کې او کوم څوک چی د ده په خبره کې هیڅکله دروغ نه وی په هغه باندی په باور کولو کې ستاڅه شک دی که د رسول الله ﷺ ذات مبارک داسی وی او رښتیا هم داسی دی نو ته پوه سه چی هغه بیشکه د الله ﷻ نبی ﷺ دی او د الله ﷻ رسول ﷺ دی صلی الله علیه وسلم او داسی رسول دی چی د کوم شئ د کولو حکم یې تا ته کړی دی د هغه په اړه هیڅ هوښیار هیڅکله نسی ویلای چی کاشکی هغه ددې شئ څخه منع کړی وای او د کوم شئ د نه کولو حکم چی کړی د هغه په اړه هیڅ هوښیار دا نه سی ویلای چی کاشکی ددې شئ په کولو حکم سوی وای یا کوم څوک چی دئ و بښی یا د کوم چا چی دئ سزا ورکړی په هغه کې د اسانی او کمبود ځکه د هغه هر امر او هره منع او د هغه ارشاد د هر هوښیار او فکرمند د تمنا او آرزو برابر دی ..

د بحرین پاچا منذر بن ساوی و علاء بن حضرمی ته په ځواب کې وایې :

منذر وویل زه چی په کوم دین باندی یم ما په هغه کې فکر وکی نو هغه می یوازی د دنیا لپاره ګټور وبالو او د آخرت لپاره نه او ستاسو په دین کې می فکر وکی نو هغه می هم د دنیا لپاره او هم د آخرت لپاره ګټور وبالو نو ما ته د هغه دین د منلو څه مانع شته چی د هغه په منلو سره د ژوند ټول امیدونه او د مرګ خوشالی حاصلیږی تر او سه پوری به زه و هغه چا ته ډیر په تعجب کې وم چی هغه به دین اسلام منلی وو او اوس به په دې باندی تعجب کوم چی څوک د احق دین څنګه نه منی او ردوی یې .

---

(۱) الجواب الصحیح لابن تیمیه ، ج ۱/ ص ۱۰۱/ اتر ۱۰۳، (۲) له روایاتو خو دا ثابته ده چی رسول کریم ﷺ منذر بن ساوی ته د اسلام بلن لیک لیږلی دی مګر له ډیری پلټنې سره سره مو د هغه لیک الفاظ معلوم نه کړای سو ، زرقانی ج ۲/ ص ۱/ ۳۵۱)

سیف لودین کتابتون

د منذربن ساوی له لوری د رسول الله صلی الله علیه وسلم دلیک ځواب : !

منذر په اسلام مشرف سو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دلیک ځواب یې ولیکی

(امابعد یارسول الله فانی قرأت کتابک علی اهل البحرین فمنهم من احب الاسلام واحبه ودخل فیه ومنهم من کرهه وبأرضی یهود ومجوس فاحدث الی فی ذلک امرک)

ژباړه : اې رسول الله ﷺ ماستا پیغام د بحرین واولس ته ورسوی یو شمیر خلکو اسلام ومنی او په اسلام کې داخل سو او یو شمیر نورو بیا ونه منی او زما په هیواد کې یهودیان او مجوسیان او سیږي په دې اړه ته خپل حکم را ته وکړه .

رسول الله ﷺ د منذر دلیک په ځواب کې ورته ولیکل

بسم الله الرحمن الرحیم ، من محمد رسول الله الی المنذر بن ساوی سلام علیک فانی احمد الیک الله الذی لااله الاهو واشهد ان محمدا رسول الله ، امابعد فانی اذکرک الله عزوجل فانه من ینصح فانما ینصح لنفسه وانه من یطع رسلی وتبع امرهم فقد اطاعنی ومن نصح لهم فقد نصح لی وان رُسلی قد اثنوا علیک خیرا وانی قد شفعتک فی قومک فاترک للمسلمین مااسلموا علیک وعفوت عن اهل الذنوب فأقبل منهم وانک مهما تصلح فلن نعزلک من عملک ومن اقام علی یهودیته اومجوسیته فعلیه الجزیة) (زادالمعاد جلد۲/ص/۶۱. زرقانی ج/۳/ص/۳۵۱)

ژباړه : پیل کوم په نامه دالله ﷻ چې ډیرمهربان او ښبونکی ذات دی ، دالیک د محمد رسول الله ﷺ له لوری و منذربن ساوی ته ، سلام دی وی پر تا باندی زه تا ته د هغه الله حمد رسوم چې له هغه پرته هیڅ معبود نسته او شاهدی وایم چې محمد ﷺ دالله رسول دی وروسته زه تا ته الله ﷻ دریادوم ځکه چې څوک دالله ﷻ سره وفا او د مسلمانانو د خیرغوښتنه و کړی هغه په ربښتیا هم د خپل ځان د خیرغوښتنه وکړه او چا چې زما د استازو خبره ومنله نو هغوئ زما د حکم پیروی وکړه نو ربښتیا هم هغو زما پیروی وکړه او چا چې د دوئ خیرغوښتنه وکړه نو ربښتیا هم هغوئ زما خیرغوښتنه وکړه زما استازی ستا ښه صفت وکي ما ستا د قوم په اړه ستا خبره ومنله هغه مالونه چې د مسلمانانو په واک کې دي هغه پر خپلو مالو پرېږده او خطاکارونه ماوبښل ته د دوئ اسلام قبول که یا توبه قبوله کړه او تر څو پوری چې جوړ روغ یې موږ تا نه ګوښه کوو او څوک چې پر خپل یهودیت یا مجوسیت باندی پاته دی پر هغوئ جزیه کیږده ..

د عمان پاچا ته د اسلام بلن لیک مبارک د هجرت اتم کال د میانی میاشت !

بسم الله الرحمن الرحیم ، من محمد بن عبدالله ورسوله الی جَیفَر وعبدٍ ابنی الجلندی سلام علی من اتبع الهدی امابعد فانی ادعوکما بدعایة الاسلام اَسلِما تَسلَماً فانی رسول الله الی الناس کافة لانذر من کان حیا (۱) ویحق القول علی الکافرین وانکماان اقررتما بالاسلام ولیتکماوان ابیتما ان تقرا بالاسلام فان ملککما زائل عنکما وخیلی تحل بساحتکما وتظهر نبوتی علی ملککما

---

(۱) یعنی د هغه پر زړه د ژوند آثار پاته وی او د چا چې زړه پیخی مړوی د هغه په اړه بیریدل او نه بیریدل یو شان دی

سيف لودين كتابتون

ژباړه : پيل کوم په نامه دالله ﷻ چې ډير مهربان اوبښونکی دی ، داليک دمحمدبن عبدالله ﷺ دالله دراليږل سوی استازی له لوري دی وجيفر اوعبد چې دوئ دواړه دجلندي زامن دی سلامتيادی وی په هغه چاباندی چې په سمه لاردی وروسته تردی زه تاسو دواړوته داسلام بلنه درکوم اسلام راوړی روغ به پاته سی ځکه زه دالله ﷻ رسول ﷺ يم ټولو خلکوته راليږل سوی يم ددی لپاره چې دالله ﷻ له عذاب هغه څوک وويروم چې ژوندی دی اوددې لپاره چې دالله ﷻ دليل په نه منونکوباندی پوره سی تاسوکه اسلام ومنی نوتاسوبه پرخپله پاچهی پاته سی اوکه موانکاروکي نوپوه سی چې ستاسوپاچهی نژدی تلونکی ده اوزمانبوت اوپيغمبری به ستاسودهيواد په ټولوادیانوغالبه کيږی ..

کال ۸ هجری دمياني په مياشت کې يې عمرو بن العاص رضی الله تعالی عنه ته داليک ورکی اودجلندی وزامنوته يې وليږی .

عمروبن العاص ؓ وايې : چې ماليک واخيستی عمان ته ورسيدم لومړی مې له عبدسره وليدل هغه ډير حليم زغم درلودونکی اوښه خويه انسان وو ماورته وويل چې زه درسول الله ﷺ استازی يم ، عبدوويل چې پاچاخوزمامشروروړ جيفردی زه به تاله هغه سره مخامخ کم داليک هغه ته وړاندی که ، وروسته يې ماته وويل چې ته موږ څه ته رابولی ، عمربن العاص ؓ ديوه الله عبادت اوبندګی وکي بت پرستی پريږدی اوددې خبری شاهدی ورکړئ چې محمدصلی الله عليه وسلم دالله ﷻ بنده اودهغه رسول دی

عبد : اې عمروبن العاص ؓ ته دخپل قوم دمشرزوی يې داراته ووايه چې ستاپلارڅه وکړل موږبه دهغه پيروی وکړو ؟

عمروبن العاص ؓ : زماپلارمړسو اوپرهغه باندی يې ايمان نه راوړی اوزماهليه داوه چې هغه به اسلام راوړی اودمحمد ﷺ تصديق به وکړی ترڅه وخته زه هم دهغه په رايه پاته وم خو وروسته الله تعالی ماته سمه لاروښوده اوداسلام هدايت يې رانصيب کی اوتوفيق يې راکي

عبد : ته کله مسلمان سوی يې ؟

عمروبن العاص ؓ : څو ورځې کيږی

عبد : چيری مسلمان سوی

عمروبن العاص ؓ دحبشه دپاچانجاشی په لاس باندی(۱) اونجاشی هم مسلمان سوی دی

عبد : له نجاشی سره تراسلام راوړلووروسته دهغه قوم څه معامله وکړه ؟

عمروبن العاص ؓ : دمخکې په څيريې هغه پرپاچهی پريښودی اودهغه خبره يې ومنله

عبد : پادريانو اوراهبانو څه وکړل ؟

عمروبن العاص ؓ : ټولودهغه پيروی وکړه

---

(۱) يوه عجيبه اوباريکه خبره ده چې يوصحابی دتابعی په لاس باندی اسلام منی ځکه عمروبن العاص ؓ صحابی دی

سيف لودين كتابتون

عبد: اې عمرو ﷺ لږ فکر وکړه چې ته څه وايې ښه پوه سه چې تردروغو بل ډير بدخوی نسته او دانسان لپاره تر دروغو بل ډير رسواکونکي شئ نسته ؟

عمروبن العاص ﷺ: رښتیاهم مادروغ نه دی درته ویلي او نه زموږ په دین کې دروغ ویل روادی .

عبد: معلومه نه ده چې دروم پاچاهرقل دنجاشي په اسلام راوړلو خبردی که نه ؟

عمروبن العاص ﷺ: هرقل دنجاشي په اسلام خبردی .

عبد: ته په دې څه خبرسوی ؟

عمروبن العاص ﷺ: نجاشي به مخکې دروم پاچاهرقل ته مالیه ورکوله خوکله چې مسلمان سو وروسته یې مالیه بنده کړه اودایې وویل چې قسم په الله ﷻ که دروم پاچایوه روپۍ هم وغواړي نو نه یې ورکوم دروم پاچاهرقل ته چې کله دنجاشي داخبره ورسیده نوهیڅ یې هم ونه ویل دهرقل وروړ چې نیاق نومیدی هغه ډیرپه غصه سو اوپاچاته یې وویل چې آیاته خپل مریئ یعني نجاشي همداسې پریږدی چې مالیه به هم نه راکوی اوستاله مذهب اوښتی دی اونوی دین یې غوره کړی دی ؟ هرقل ورته وویل دنجاشي خپله خوښه ده چې هغه کوم دین غوره کوی هغه دې خوښ کی قسم په الله ﷻ که زه پرخپله پاچهی نه ویریدای نومابه هم هغه دین غوره کړی وو

عبد: په ډیرتعجب وویل اې عمرو ﷺ ته څه وایې ؟

عمروبن العاص ﷺ قسم په الله ﷻ زه چې څه وایم هغه ییخی بشپړرښتیادی

عبد: ښه داراته ووایه چې ستاسوپیغمبردڅه شئ حکم ورکوی اودکوم شیانوڅخه منع کوی ؟

عمروبن العاص ﷺ: دیوه الله ﷻ دبندګی حکم کوی اودهغه دنافرمانی څخه منع کوی دښوکارو اوخپلوی حکم کوی دتیری اوظلم زنااوشراب خوړلواوبتانوله عبات کولو اودصلیب له عبادت کولوڅخه منع کوی .

عبد: ډومره ښه شیانوته بلنه ورکوی اوڅه ښه غوره دین دی کاشکی چې زماورورهم لماسره یوسی زه اودئ دواړه یوځای دهغه مبارک ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوپرهغه باندې ایمان راوړو اودهغه تصدیق وکړو مګر کیدای سی چې زماوروربه دخپلې پاچهی له امله په دې اړه فکر وکړی ؟

عمروبن العاص ﷺ: که اسلام ومنی نورسول الله ﷺ به دهغه پاچهی پرخپل حال پریږدی اوداحکم ورکوی چې دخپل قوم له شتمنو څخه زکوتونه واخلي اودقوم پربیوزلو اومسکینانو یې وویشي .

عبد: داخو ډیره غوره خبره ده داراته ووایه چې زکوة څنګه اوڅومره اخلي ؟

عمروبن العاص ﷺ: وایې مادزکوت تفصیلي بیان ورته وکي چې په سروزرو کې دومره او په سپینو زرو کې دومره او په اوښانو او پسو اوبزوکي دومره اخلي تردې وروسته عبدزه

سیف لودین کتابتون

خپل ورورته وروستم ماد حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم مهرسوی لیک ورته وړاندی کی جیفرلیک پرانیستی اووې لوستی ماته یې دکینستلوامروکي اود قریشو دڅه حال احوال پوښتنه یې راڅخه وکړه له یوی یادوو ورځوروسته جیفرهم اسلام راوړلوته تیارسو اودواړه ورونوپه یوه ځای په یوه ورځ دخپل اسلام راوړلواعلان وکي ډیرخلک ددوئ له اسلام راوړلوسره مسلمانان سو چاچی ونه منی پرهغوئ باندی جزیه کیښنودل سوه (زادالمعاد جلد ۳ /ص /۶۳، هدایة الحیاری للحافظ ابن القیم ص۳۴) (۱)

دابن اسحاق په روایت کې راغلی دی چی رسول کریم ﷺ عمروبن العاص ﷺ جلندی ته داسلام دبلنی لپاره لیږلی وو کیدای سی چی رسول الله ﷺ عمروبن العاص ﷺ پلا راودواړه زامنوته لیږلی وی (کذافی الاصابه جلد ۱ /ص /۲۶۲، ۲۶۳ترجمه جلندی وجیفرقسم ثالث)

علامه سهیلی لیکی چی عمروبن العاص ﷺ جلندی ته وویل اې جلندی ته که څه هم له موږڅخه ډیرلیری یې مگر دالله عزوجل څخه نه یې لیری کوم پاک ذات چی ته یواځي پیداکړی یې یعنی پرته دبل چاله مرستی نویواځی دهغه عبادت کوه اوبل څوک ستاپه پیداکولوکې شریک نسته نوته هم دهغه الله ﷻ په عبادت کی شریک مه پیداکوه اویقین ساته چی کوم الله ﷻ چی ته ژوندی کړی یې هغه تاته مرگ راولی اوچاچی ستادزوکړی پیل کړی دی هغه به بیرته تاخپل ځان ته ورغواړی ته دنبی امیﷺ په اړه ښه فکراوغوروکړه چی ددنیااوآخرت نیکی اوخوشالی یې راوړی ده که هغه لتاڅخه څه بدله اوعوض غواړی نوهغه مه ورکوه اودهغه په کومه ویناوکارکې دنفس دغوښتنی که څه بوی محسوس کوی نوهغه پریږده بیادهغه په راوړی دین کې فکروکړه چی دهغه دین دخلکوله جوړوسویوقوانینوسره ورته مشابه دی اوکه نه که دهغه شریعت اودهغه دین دخلکودجوړسوی دین سره مشابه وی نووایه چی دچاسره مشابه دی اوکه دهغه دین دخلکوله جوړسوی دین سره مشابه نه وی نوپوه شه چی هغه دالله جل جلاله دین دی نوهغه ومنه اوکوم حکم چی کوی هغه عملی کړه اوله څه څخه چی موویروی له هغه څخه ویریږه ؟ جلندی وویل : مادډې نبی امی ﷺ په اړه ښه غوراوفکروکی بیشکه چی هغه دهیڅ خیراونیکی حکم نه ورکوی مگر ترټولومخکې په هغه باندی په خپله عمل کوی اوله هیڅ بدۍ منع نه کوی مگر ترټولومخکې هغه په خپله دهغې پریښودنکی دی کله چی پرخپلودښمنانوبریالی سی نوکبر اولویی نه کوی اوکله چی مغلوب سی نوبیریږی نه نولوظ ماتوی دژمنی وفاکوی زه شاهدی ورکوم چی هغه ریښتیاهم نبی دی (۲)

اوداشعرونه یې وویل اتانی عمرو بالتی لیس بعدة........ من الحق شئ والنصیح نصیح

فیاعمرو قد اسلمت لله جهرة.............. ینادی بها فی الوادیین فصیح

(۱) داقصه په طبقات ابن سعدکوتاه په جلد ۲ /ص /۱۸اکې ذکرسوی ده، زرقانی ج ۳ /ص /۳۵۳)
(۲) روض الانف جلد ۲ /ص /۳۵۶)

سیف لودین کتابتون

دیمامه مشر هوذة بن علی په نامه داسلام بلنلیک مبارک!

بسم الله الرحمن الرحیم ، من محمد رسول الله الی هوذة ابن علی ، سلام علی من اتبع الهدی واعلم ان دینی سیظهر الی منتهی الخف والحافر فاسلم واجعل لک ماتحت یدیک..

ژباړه : پیل کوم په نامه دالله ﷻ چې ډیر مهربان اوبښونکی دی ، دالیک د محمد رسول الله ﷺ له لوری وطرفته د هوذة بن علی ، سلامتیا دی وی پرهغه چاچی دسمی لاری پیروی یې وکړه پوه سه چی زمادین به هغه ځای ته رسیږی کوم ځای ته چی اوښان اوآسونه رسیدای سی اسلام راوړه روغ به پاته سی اوستاپه واک کې چی څه دی هغه به موږ تاته پریږدو سلیط بن عمرو رضی الله تعالی عنه ته یې دامبارک لیک ورکړاووې لیږی ، هوذه چی کله د رسول الله ﷺ لیک ولوستی نوپه ډیر درناوی اوعزت سره راکښېنته سو

سلیط رضی الله عنه هوذه ته لاندی نصیحت وکې داسی یې ورته وویل :

اې هوذة ته زړو او کمزورهډوکو مشر کړی یې اوپه حقیقت کې مشرهغه څوک دی چی په ایمان سره روښانه سی اود تقوی توښه له ځان سره یوسی زه تاته دیوډیرغوره شئ حکم کوم اوله یوډیربدترین شئ دی منع کوم که ته داومنی نوستاتولی هیلی به پوره سی اوله ویری به په امن سی اوکه دی انکاروکې نود قیامت ویرونکې منظر به زمااوستا ترمنیځ داپرده پورته کوي

هوذه وویل ته ماته وخت راکړه چی زه په دې کې فکروکړم وروسته یې د رسول الله ﷺ دلیک داسی ځواب ولیکي .

(مااحسن ماتدعوا الیه واجمله والعرب تهاب مکانی فاجعل الی بعض الامر اتبعک) ژباړه : کوم شئ ته چی ته بلنه ورکوی هغه ډیرغوره اوښائسته دی عرب زماله هیبت اومرتبی څخه ویریږی که ته ماته څه واک راکړی نوزه به ستاپیروی وکړم دالیک یې ورکې اودتګ په وخت کی یې سلیط رضی الله عنه ته تحفی اوډالۍ هم ورکړی اودڅه هجرجوړی سوی جامې یې ورکړی کله چی سلیط رضی الله عنه مدینی ته راغلی نونبی کریم ﷺ ته یې ټوله قصه بیان کړه رسول الله ﷺ لیک ولوستی اووې فرمایل قسم په الله ﷻ که یوه لویشت ځمکه وغواړی هم یې نه ورکوم هغه هم تباه سو اودهغه ملک هم تباه سو ، رسول الله ﷺ چی کله دمکی له فتح بیرته راتلی نوجبرئیل علیه السلام راغلی اودهوذه دمرګ خبریې ورکي ، رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرام رضی الله عنهم ته داخبرواوروی اودایې وفرمایل چی نژدی به په یمامه کې یو کذاب دروغجن ښکاره کیږی چی دنبوت دعوی به کوی اوترماوروسته به وژل کیږی اوهمداسی وسو (۱)

دد مشق دمشر امیر حارث غسانی په نامه داسلام بلنلیک مبارک

بسم الله الرحمن الرحیم ، من محمد رسول الله الی الحارث بن ابی شمر ، سلام علی من اتبع الهدی وآمن بالله وصدق فانی ادعوک الی ان تؤمن بالله وحده لاشریک یبقی) ژباړه : پیل کوم په نامه دالله ﷻ چی ډیرمهربان اوبښونکی دی ، دمحمد رسول الله ﷺ له لوری وحارث بن ابی شمرته ، سلامتیادی وی پرهغه چاچی دسمی لاری پیروی یې وکړه

(۱) زادالمعاد جلد ۳ /ص/ ۶۳)

سیف لودین کتابتون

اوپه الله ﷻ باندې یې ایمان راوړی اوداللهﷻ داحکاموتصدیق یې وکي زه تاته بلند درکوم ددې خبرې چې ایمان راوړه په هغه الله ﷻ باندې چې دهغه هیڅ شریک نسته که ته ایمان راوړی نوستاپاچهي به پاته سي..

شجاع بن وهاب اسدی رضی الله تعالی عنه ته یې دالیک ورکي اودمشق ته یې ولیږی کله چې شجاع بن وهاب ؓ دمشق ته ورسیدی نوپه دغه وخت کې حارث غسانی دروم دپاچاهرقل په میلمستیاتیارولوبوخت وو هرقل په دغه وخت کې په فارسیانوبریالی سوی وو ددې بریالیتوب دشکراداکولولپاره له حمص پلې بیت المقدس ته تللی وو، شجاع بن وهاب ؓ وایې زه څوورځې انتظارسوم مګر له حارث سره مې ملاقات ونه سو مادحارث وچوکیدارته وویل چې زه درسول الله ﷺ استازی یم غواړم له پاچاسره ووینم چوکیدار راته وویل چې پاچاپه یوه یادوورځوکې راځي ترهغه وروسته بیاته ورسره لیدای سې، داچوکیدار دروم اوسیدونکی وو دده نوم مُرې وو چوکیدارله ماڅخه درسول الله ﷺ په هکله پوښتنې کولې مابه درسول الله ﷺ حالات ورته بیانول ده به ژړل کله چې ده درسول الله ﷺ حالات واوریدل نو وې ویل چې ماانجیل لوستی دی درسول الله ﷺ نوم اوصفات مې پکی لیدلی زه په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړم اودده تصدیق کوم اوزه اندیښمن یم چې حارث به ماووژنی، دې چوکیدار زماډیردرناوی اوعزت وکړاوډیرې میلمستیاوې یې راکړې،

یوه ورځ حارث راغلی اوتاج یې پرسرکې ماته ددنه ورتلواجازه راکړل سوه کله چې زه ورغلم نودرسول الله ﷺ لیک مې ورته وسپاری، حارث چې کله هغه ولوستی نویوه لمبه سو اودرسول الله ﷺ لیک یې لیرې وغورزوی اوپه غصه یې وویل چې هغه بیاڅوک دی چې زماپاچهي به له مااخلي زه په خپله دده ولورې ته ورځم سمدستي یې دآسانودنال اچولوامروکې اودرسول الله ﷺ دلیک مضمون یې دروم پاچاهرقل ته ولیږی اوخپله اراده یې ورته وښوده، دروم دپاچاهرقل له لورې دته ځواب راغلی چې ترخپله اراده تیرسه، کله چې ده ته دروم دپاچاله لورې ځواب راغلی وروسته یې زه وروغوښتم اوپوښتنه یې راڅخه وکړه چې دبیرته تلونیت دې کله دی. ماورته وویل چې صبامې نیت دی چې ولاړسم، حارث دسل مثقالوسروزروهدیه راته وړاندې که اوچوکیدار هم تحفه راکړه اووې ویل چې رسول الله ﷺ ته زماسلام ورسوه، زه راغلم مدینې منورې ته اوټوله پیښه مې رسول الله ﷺ ته بیان کړه، رسول الله ﷺ وفرمایل دهغه پاچهي تباه سوه، وروسته مادمُرې چوکیدارسلام ورسوی اوڅه چې هغه راته ویلې وو هغه مې بیان کړل نبی کریم ﷺ وفرمایل رښتیا یې ویلي دي (زادالمعاد جلد ۳/ص/ ۶۳)

سیف لودین کتابتون

فوائد او مسائل (۱) دنړۍ و پاچهانو ته دليک ليږل او د اسلام بلنه ددې خبرې ښکاره دليل دى چې د رسول الله ﷺ نبوت يوائې تر عربو پورې خاص نه دى بلکې دهغه رسالت عرب او عجم جنس او انس يهود او نصارى او مشركين او مجوس ټولو لپاره دى

د روم پاچا (هرقل) چې په مذهب عيسايي وو هغه د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت اقرار وکړ مګر اسلام يې رانه وړى دغه رنګه دمصر پاچا مقوقس هم چې عيسايې وو د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت اقرار وکې مګر اسلام يې رانه وړى او د حبشه پاچا نجاشي هم عيسائي وو خو هغه اسلام راوړى د عيسايانو يو شميرډلو دا ګمان دى چې رسول كريم ﷺ نبي او رسول دى مګر يوائې د عربو لپاره وو ديهودو او نصاراو و لپاره نه دى راليږل سوى د دوئ دا فکر بيخي غلط دى ، ځکه که د رسو ل الله ﷺ نبوت او رسالت يوائې د عرب لپاره ځانګړى وى نو يهوديانو او نصرانيانو او مجوسيانو ته يې د اسلام بلنه ولې ورکوله او په يهوديانو او نصرانيانو يې جزيه ولې ايښوده د امام زهرى څخه نقل دى چې تر ټولو مخکې رسول الله ﷺ د بحرين په نصاراو و جزيه کيښوده او کله چې يې معاذ بن جبل ﷺ يمن ته وليږى او د هغه ځاى حاکم يې وټاکى نو حکم يې ورته وکې چې په يمن کې چې کوم يهوديان دى له هغوئ څخه د هر بالغ د کال يو دينار جزيه اخله

(۲) تر همدى وخت خو ډير غزاګانى له عربو سره وى تردى وروسته په کال او وم ۷ هجرى کې د خيبر له يهوديانو سره جهاد او قتال وسو او بيا په کال اتم ۸ هجرى کې د موته ولورى ته د نصرانيانو د مقابلې لپاره يوه سريه وليږل سوه چې په هغه کې زيد ﷺ او جعفر ﷺ او عبد الله بن رواحه ﷺ مشران وټاکل سو ددې سريه تفصيل به نژدى راسى انشاء الله او بيا په کال نهم ۹ هجرى کې رسول الله ﷺ په خپله د روم دپاچا د مقابلې لپاره تبوک ته روان سو چې د اغزا د تبوک په غزا مشوره ده د اغزا د شام له نصاراو و سره وه له دې ټولو پيښو معلومه سوه چې د رسول الله ﷺ رسالت يوائې تر عربو پورى ځانګړى نه دى بلکې يهوديان او نصرانيان او ټول عالم دهغه د دعوت او شريعت مکلف دى او که دهغه د شريعت مکلف نه وى نو له هغوئ سره د جهاد څه معنى ده ؟

(۳) او همدارنګه له قرآن او حديث څخه په تواتر ثابته ده چې رسول الله ﷺ په ډاګه دا فرمايل (قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا وَيَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا) اهل کتابو ته به يې په ښکاره د اسلام بلنه ورکوله نو که د نصرانيانو ددې ډلى په نزد که څه هم هغه عربو ته نبي راليږل سوى دى مګر بهرحال نبي وو او نبي که څه هم و يو خاص قوم ته راليږل سوى وى خو عقلاً او نقلاً دا لازمى ده چې نبي به په خپله خبرو او دعوه کې رښتينى وى دانسى کيداى چې نبي دى وى او په يوه خبره کې دى هغه دروغجن وى نوکه د عيسانو ددې ډلى په نزد نبي کريم ﷺ د عربو لپاره پيغمبر وو نو هغه رښتيا په دې دعوه کې چې (انى رسول الله اليکم جميعا) به هم خامخا رښتينى وى کله چې يې هغه پيغمبر وګڼى نو په دعوى د عموم د رسالت کې به هم هغه رښتينى منى ..

سيف لودين كتابتون

دخيبر غزا دهجرت اووم کال دمحرم الحرام مياشت!

﴿وَعَدَكُمُ اللهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَذِهِ﴾ (سورة الفتح آيت ٢٠) ژباړه: وعده کړې وه الله تعالى له تاسو سره دډيرو غنيمتو چې هغه به تاسو ته درکول کيږي اوس دادخيبر غنيمت الله تعالى تاسو ته ژر درکړ..

رسول كريم ﷺ چې کله له حديبيه څخه دمديني پرلاروو چې سورة فتح نازل سو په دغه سورت کې الله تعالى له مسلمانانو سره عموماً او په ځانګړې ډول دبيعت الرضوان له صحابه ﷺ ووسره داژمنه وکړه چې تاسو ته به ډيربرياليتوبونه درکوم او ډيرغنيمتونه به تاسو ته رسيږي اوس دستي دبيعت الرضوان په بدل کې دخيبرفتحه ورکړه او دمکې فتح چې تر واسه لاستاسولاس ته نده درغلي پوه سي چې هغه به هم تاسو ته درکړل سي او تر هغه وروسته به تاسو نورې فتحې هم وکي چې په هغو موږ خبريو لکه چې په تيرسوي آيت کې فعجّل لكم هذه څخه دخيبرفتح مراد ده اوله وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا څخه هم له نژدې فتح څخه دخيبرفتح مراد ده کله چې رسول کريم ﷺ له حديبيه څخه بيرته مدينې منورې ته راورسيدې دمياني مياشت پاې اودمحرم لومړني شپې اوورځې په مدينه منوره کې وو په همدې وخت کې رسول كريم ﷺ ته داامر وسو چې په خيبرباندې حمله وکړه پر هغه ځاې چې هلته غداريهوديان اوسيږي او هغه خلک چې دخپلې ژمنې خلاف يې داحزاب په جنګ کې يې دمکې دمشرکين پرمدينه منوره باندې دحملې لپاره راوستل او الله ﷻ رسول الله ﷺ ته داخبرورکي چې دخيبردبرياليتوب دزيرې په اوريدو سره به منافقين هم له تاداغوښتنه وکړي چې موږهم ستاسره په دې سفرځو خو دالله ﷻ حکم دادې چې داخلک دې له تاسره په دې سفرکې نه ملګرې کيږې په دې اړه داايت نازل سو ﴿سَيَقُولُ الْمُخَلَّفُونَ إِذَا انطَلَقْتُمْ إِلَى مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللهِ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَلِكُمْ قَالَ اللهُ مِن قَبْلُ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا بَلْ كَانُوا لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا﴾ (١٥) آيت سورة الفتح)

ژباړه: کوم خلک چې دحديبيه له سفرشاته پاته سوي دي کله چې تاسو دخيبر دغنيمتو لپاره ځې نو دوئ به تاته ووايې چې موږ ته هم اجازه راکړه چې خيبرته درسره ملګرې سو الله تعالى ددوئ په اړه تاته دالاربنودنه کوي چې داخلک غواړې چې دالله تعالى حکم او دهغه ژمنه بدله کړې ته ورته ووايه چې تاسو هيڅکله زموږسره نسې تلاې الله تعالى مخکې لاداحکم کړې دي بيابه دامنافقين دااعتراض کوي چې تاسوزموږسره کينه کوي او غواړې چې په غنيمت کې موږ له تاسره شريک نه سو اوسره له دې داددوئ ويناييخې غلط ده ځکه دصحابه کرام ﷺ زړونه له کينه اوحرص څخه پاک دي بلکې داخلک په خبره ډيرلږ پوهيږې..

دکوم خلکوپه نظرکې چې ټوله دنياديوه ماشي دوزرپه کچه ارزښت نه لرې دهغه په اړه دکين تصورپوره ناپوهي اوکم عقلي ده

سیف لودین کتابتون

رسول الله ﷺ په مدینه کې د څه وخت پاته کیدو وروسته د هجرت اووم کال د محرم په میاشت کې څورلس سوه پلی او دوه سوه سپرو لښکر تیار کی او د خیبر خواته روان سو په دي سفر کې ام المؤمنین ام سلمة رضی الله عنها له رسول کریم ﷺ سره وه (فتح الباری جلد ۳/ص/ ۳۵۶، او زرقانی جلد ۲/ص/ ۲۱۷)

په صحیح بخاری کې له سلمه بن اکوع رضی الله عنه څخه روایت دی چی موږ د رسول الله ﷺ سره په شپه کې خیبر ته روان سو نو مشهور شاعر عامر بن اکوع رضی الله عنه دا شعر لوستی او مخکې روان وو

(اللهم لو لاَ اَنتَ مَا اهْتَدَیْنَا .... وَلاَ تَصَدَّقْنَا وَ لاَ صَلَّیْنَا

اي الله ﷻ که موږ ته تا سمه لار نه وای راښودلی نو موږ به هیچری نه وه پیدا کړی او نه به مو خیرات کوی او نه به لمونځ کوی

فاغفر فداء لک ما اتقینا (۲) .... وَاَلْقِیَنْ سکینةً عَلَیْنَا

الله ﷻ مو په تا باندی قربان یو کوم احکام چی موږ نه دی عملی کړی هغه راوبښی او خاص ارام او ډاډ په موږ نازل کړی د دی لپاره چی زړه ته آرام او ډاډ حاصل سی او هر رنګه غمونه له زړه لیری سی

وَثَبِّتِ الْاَقْدَامَ اِنْ لاَ قَیْنَا .... اِنَّ اذَا صِیْحَ بِنَا اَتِیْنَا

له دښمنانو سره د مقابلی په وخت کې زموږ پښي ټینګی کړی. کله د جهاد لپاره راوغوښتل سو نو په منډه ورته راځو

.....بِالْصِّیَاحِ عوَّلُوا عَلَیْنَا ،،،، او په ناره سره یې موږ ته فریاد کړی دی

په مسند احمد کې د شعر یو شمیر کلمی نوری هم زیاتی سوی دی هغه داسی دی:

اِنَّ الْذِیْنَ قَدْ بَغَوْا عَلَیْنَا .... اِذَا اَرَادُوا فِتْنَةً اَبَیْنَا

ربښتیا هم کوم خلکو چی پر موږ تیری کړی دی کله چی هغوئ موږ ته د کفر او شرک په کومه فتنه کې د اخته کولو نیت وکړی نو موږ هغه نه منو

وَنَحْنُ عَنْ فَضْلِکَ مَا اسْتَغْنَیْنَا :::::::::

اي الله ﷻ مو ستا له مهربانی او فضل بی پروانه یو دا مصری په مسلم کې هم ذکر سوی ده رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چی دا شعر څوک وایې؟ صحابه کرام رضی الله عنهم ورته وویل عامر بن اکوع رضی الله عنه دی نبی کریم ﷺ وفرمایل (یرحمه الله) الله تعالی دی رحم پر وکړی او د مسند احمد په روایت کې راغلی دی چی (غفرلک ربک) الله ﷻ دی تا ته بښنه وکړی رسول کریم ﷺ چی به کله څوک د ښښنی په دعا خاص کې نو هغه به خامخا شهید کیدی ځکه عمر فاروق رضی الله عنه ورته وویل یا نبی الله دده لپاره خو جنت واجب سو کاشکی چی موږ د عامر رضی الله عنه له دلاوری یو څو ورځي نوره ګټه پورته کړی وای (فتح الباری جلد ۷/ص/ ۳۵)

---

(۱) په یو بل روایت کې د (مااتقینا) پر ځای (مابقینا) راغلی دی یعنی کوم ګناهونه چی په موږ پاته دی چی له هغو څخه موږ توبه نه ده کښلی هغه راوبښی ځکه ربښتینی توبه سره ګناه د عملنامی څخه ورانیږی د توبی څخه وروسته ګناه نه پاته کیږی

... (مالقینا) یعنی ای الله ﷻ کوم ګناهونه چی موږ کړی دی هغه راوبښی

سیف لودین کتابتون

صحابه کرام رضی الله عنهم په لاره کې یو لوړ ځای ته ورسیدل نو په زوره یې د تکبیر ناره وکړه، رسول کریم ﷺ وفرمایل په خپلو ځانو رحم وکی تاسو خو کا نه او غائب ته ناره نه کوی تاسو خو هغه پاک ذات رابولی چی اوریدونکی او نژدی دی او هر وخت ستاسو سره دی .. ابوموسی اشعری رضی الله عنه وایې چی زه د رسول الله ﷺ سپرلی ته نژدی وم هغه مبارک له ما څخه لاحول ولاقوة الابالله واوریدل، رسول کریم ﷺ را ته وویل اې عبدالله بن قیس رضی الله عنه (۱) ما ورته وویل (لبیک یارسول الله ﷺ) اې دالله ﷻ رسول ﷺ حاضریم، رسول کریم ﷺ وفرمایل آیازه تا ته دجنت خزانه وښیم ما ورته وویل ولی نه زما مور او پلار دی پر تا قربان وی خامخا یې را وښیه رسول کریم ﷺ وفرمایل (لاحول ولاقوة الابالله (۲) یعنی دا کلمه دجنت خزانه ده (بخاری

رسول کریم ﷺ خبر وو چی دغطفان یهود و دخیبر دیهودو د مرستی لپاره لښکر را جمع کړی دی ځکه رسول الله ﷺ چی کله له مدینی منوری وکوچیدی درجیع په نامه ځای کې پړاو واچوی چی دخیبر او غطفان په مینځ کې وو ددې لپاره چی دغطفان یهود وویرېږی او دخیبر دیهود یانو مرستی ته رانه سی کله چی دغطفان یهود خبر سو نو پر خپل ځان وویریدل بیر ته پر شا ولاړل او دخپل ځان دساتنی په غم اخته سو (ابن هشام جلد ۲/ص/۱۸۵)

رسول کریم ﷺ چی کله خیبر ته نژدی ورسیدی صحابه کرام رضی الله عنهم ته یې حکم وکي چی ودرېږی او دعاء یې وغوښته دعا داسی وه (اللهم رب السموات وما اظللن ورب الارضین وما اقللن ورب الشیاطین وما اضللن ورب الریاح وما ذرین فانا نسألکم خیر هذه الصریة وخیر اهلها وخیر ما فیها ونعوذبک من شرها وشر اهلها وشر ما فیها اقدموا بسم الله)

د رسول کریم ﷺ دا عادت شریف وو چی کله به یو کلی ته داخلیدی نو همدا دعاء به یې غوښته (سیرة ابن هشام جلد ۲/ص/۱۸۵)

په صحیح بخاری کې له انس رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ خیبر ته دشپی ورسیدی دهغه عادت شریفه داوو چی دشپی به یې برید نه کوی دسهار انتظار به یې کوی کله چی به یې آذان واوریدی نو برید به یې نه کوی او که به آذان نه وسو نو ور وسته به یې برید کوی ددې عادت شریف برابر په خیبر کې دسهار دآذان انتظار وسو کله چی آذان نه واوریدل سو نو دبرید دتیاری امر یې وکي هوړ تیار سو په همدی وخت کې یهودو کولنګان او بیلچی را اخیستی وو او خپلو باغو او کار و ته له کور و را ووتل ناڅاپه یې دمسلمانانو لښکر ولیدی چی را روان دی دوئ ناری کړی وې ویل محمد ﷺ والخمیس یعنی

---

(۱) عبدالله بن قیس رضی الله عنه دابوموسی اشعری نوم دی او ابوموسی اشعری یې کنیت دی

(۲) ددې کلمی معنی داده چی دالله ﷻ دالله ﷻ له مرستی پرته له سرغړونی نه سی ساتل کیدای او هیڅ توان او قوت نه لری مګر دالله په مرسته او تائید سره ښکاره خبره چی په حول او قوت کې خپل ځان نیست ګڼل او دالله ﷻ په حول او قوت او دهغه په مرسته او تائید او دهغه په توفیق او لارښوونه باندی تکیه کول هغه لوړه درجه تسلیم او غاړه ایښودنه ده دجنت له خزانو څخه ده او کوم شئ چی دجنت په خزانه کې وی هغه پټ وی ځکه دلاحول ولاقوة الابالله داجر او ثواب اندازه په هیڅ حدیث کې نده

محمدﷺ له خپل ټول فوځ او لښکر سره راغلی لښکر ته یې خمیس ویل ځکه د لښکر پنځه برخې وی لومړی برخه (۱) مقدمه (۲) میمنة (۳) میسره (۴) قلب (۵) ساقه

رسول کریم ﷺ چې کله دوئ ولیدل نو دعاء لپاره یې دواړه لاسونه پورته کړه داسی یې وفرمایل (۱) الله اکبر خربت خیبر انا اذا نزلنا بساحة قوم فساء صباح المنذرین (بخاری وفتح الباری جلد ۷ /ص /۳۵۹)

په خیبرکې دیهودیانو ډیری کلاوی وی یهودو چی کله دمسلمانانو لښکر ولیدی سمدستی له خپلو اولادو او ښځو په کلاګانو ننوتل رسول الله ﷺ ددوئ په کلاګانو بریدونه پیل کړل پرلپسی یې فتح کولی. لومړی کلا چې فتح سوه هغه دناعم قلعه په نامه وه.

(۱) **ناعم کلا**: تر ټولو مخکې دناعم کلا فتح سوه محمود بن مسلمه ﷺ ددې کلا په لمن کې وو چی یهودیانو له لوړی خواپه هغه باندی دژرندی پل راوغورزوی محمود بن مسلمه ﷺ شهید سو

دویمه قموص کلا: تر ناعم کلا وروسته قموص کلا فتح سوه دا کلا دخیبر په کلاګانو کې ډیره ټینګه وه کله چی دا کلا محاصره سوه نو رسول کریم ﷺ دسخت درد له کبله دجګړی له میدان راووتی او بیرغ یې ابوبکر صدیق ﷺ ته وسپاری ابوبکر صدیق ﷺ پوره هڅه وکړه مګر کلا فتح نه سوه بیرته راغلی په دویمه ورځ یې فاروق اعظم ﷺ ته بیرغ ورکي اووی لیږی عمر فاروق ﷺ هم پوره کوښښ او هڅه وکړه مګر بیا هم کلا فتح نه سوه بیرته راغلی (رواه احمد (۲) والنسائی وابن حبان والحاکم عن بریده بن الحصیب ﷺ)

دریمه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل چی صبا به داسی چاته بیرغ ورکوم چی له الله ﷻ او دهغه له رسول ﷺ سره مینه لری او الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ هم له ده سره مینه لری. او دهغه سړی په لاس به دا کلا فتح کیږی هر صحابی په دې انتظارکې وو چی دا نیک بختی به دچاپه برخه سی ټوله شپه په دی امید او هیلو تیره سوه کله چی سهار سو نو رسول الله ﷺ علی ﷺ راوغوښتی دعلی ﷺ سترګی خوږیدی رسول کریم ﷺ دهغه په سترګو لاړی وموښلی اودعایې ورته وکه هغه سمدستی جوړی سوی داسی جوړی سوی لکه هیڅ وخت چی خوږ سوی نه وی کله چی علی ﷺ راغلی بیرغ یې ورکی او نصیحت یې ورته وکي ورته وې ویل چی ترجګړی مخکې دوئ ته داسلام بلنه ورکړه او دالله ﷻ له حقوق یې خبر کړه قسم په الله ﷻ که یو سړی ته الله تعالی ستا په ذریعه هدایت ورنصیب کی نو هغه ستا لپاره تر سر واوښانو ډیر غوره او ښه دی علی ﷺ بیرغ پورته کی او روان سو او دا کلا هم دده په لاس فتح سوه (رواه البخاری)(۳)

(۱) په صحیح البخاری کتاب الصلاة کې درې ځله دالله اکبر او درې ځله ددې کلماتو وینا یادونه سوی ده، زرقانی جلد ۲ /ص /۲۲۳)
(۲) قال الهیثمی رواه احمد ورجاله رجال الصحیح مجمع الزوائد جلد ۶ /ص /۱۵۰ وقال الحافظ وفی الباب عن اکثر من عشرة عن الصحابة سروهم الحاکم فی الاکلیل وابو نعیم فی الدلائل، فتـ ... ری جلد ۷ /ص /۳۶۵، فلا وجه لتضعیف هذا الروایة کمافعل ابن کثیر)

سیف لودین کتابتون

دیهودو مشهور او پیاوړی پهلوان مرحب او د مقابلې لپاره میدان ته راووتی داشعر لوستی

قدعلمت خیبر انی مرحب .... شاک السلاح بطل مجرب

د خیبر خلکو ته ښه معلومه ده چې زه مرحب یم په وسله سنبال، دلاور او تجربه کار یم
عامر بن اکوع رضی الله عنه دده د مبارزې لپاره میدان ته راووتی او دا شعرېې لوستی:

قدعلمت خیبر انی عامر .... شاکی السلاح بطل مغامر

عامر رضی الله عنه غوښتل چې د مرحب پرپښه واری وکوی خو توره خطا سوه او په خپله دده پرورانه ولګیده چې له همدې کبله شهید سو سلمه بن اکوع رضی الله عنه وایې چې کله موږ مدینې ته بیرته راتلو رسول الله ﷺ زه ډیر غمجن او خفه ولیدم پوښتنه یې را څخه وکړه چې ولې داسې خفه یې؟ ما ورته وویل چې د خلکو دا فکر دی چې د عامر رضی الله عنه ټول اعمال لاهو سو ځکه هغه په خپل توره مړ سو؟ رسول کریم ﷺ وفرمایل چا چې دخبره کړې ده غلط یې ویلې دی هغه خولوی مجاهد دی او په ګوتویې اشاره وکړه وې فرمایل چې د هغه لپاره دوه اجره دی، د ابن اسحاق په روایت کې راغلي دي چې داسې یې وفرمایل چې هغه شهید دی او دده جنازه یې وکړه (۱) وروسته علی رضی الله عنه میدان ته راووتی او د مرحب په ځواب کې یې دا شعر ولوستی

أَنَا الَّذِی سَمَّتْنِی أُمِّی حیدره ....(۲)...... كَلَيْثِ غَابَاتٍ كَرِيْهَ الْمَنْظَرَه

زه هغه ځوک یم چې ماته خپلې مور زمرې ویلې دی د ځنګله د زمریانو په څیر ډیر ویرونکي یم .. دا شعرېې ولوستی او په داسې زوریې په مرحب ګذار وکې چې مرحب سره دوه ځایه سو او کلاهم سمدستي فتح سوه (رواه مسلم، فتح الباری جلد ۷/ص/ ۳۶۷)
وروسته د مرحب ورور یاسر د مبارزې لپاره میدان ته راووتی د مسلمانانو له لوری زبیر رضی الله عنه ورمخکي سو او د یاسر سره مبارزه وکړه هغه یې ووژی (زادالمعاد (۳)
دا کلا تر شل ورځې محاصرې وروسته د علی رضی الله عنه په لاس فتح سوه د غنیمت له مال پرته ډیر بندیان هم مسلمانانو ته په لاس ورغلل چې په بندیانو کې صفیه رضی الله عنها د بنی النضیر قبیلې د مشر حیی بن اخطب لور او د کنانة بن الربیع ښځه وه (۴)
نکته :: نبی کریم ﷺ چې به هره ورځ پر کومه کلابندی برید کوی نو له مهاجرو یا انصارو رضی الله عنهم څخه به یې یو ځوک ټاکی او د اسلام بیرغ به یې ورکړ هغه کلا به دده په لاس فتح سوه، د قموص کلا د فتحې فضلیت په قضاء ازلی کې د علی رضی الله عنه په لاس لیکل سوی وو په دې وجه رسول الله ﷺ علی رضی الله عنه راوغوښتی او بیرغ یې هغه ته ورکې او د رسول الله ﷺ دا وینا چې بیرغ به داسې چاته ورکوم چې د الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ به مینه ورسره لری دا د قدردانی او حوصله په

---

(۱) طبقات ابن سعد جلد ۲/ص/ ۸۰)
(۲) ویل کیږي چې مرحب په تیره شپه خوب لیدلی وو چې یو زمری راسی او دی څیری کی، علی رضی الله عنه ته په کشف دا معلومه سوه ځکه یې وویل انا الذی سمتنی امی حیدره ودې ته اشاره وه چې اې مرحب کوم زمری چې تا په خوب لیدلی وو هغه زه یم کله چې علی رضی الله عنه دا مصرې ولوسته مرحب په رپید و سو او د دلاوری ټول زوریې ووتی والله اعلم و علمه اتم، زرقانی جلد ۲/ص/ ۳۲۴)
(۳) ابن هشام جلد ۲/ص/ ۱۸۷)
(۴) فتح الباری جلد ۷/ص/ ۳۶۷)

سیف لودین کتابتون

ډول وو معاذالله ددې مطلب دانه وو چې له علي رضی الله عنه پرته دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ هيڅ دوست نسته

صفيه رضی الله عنها او ددې داکا دوې لوڼې دقموص کلا له بنديانو څخه وې چې ددوئ قصه به راسي او دصفيه رضی الله عنها دخاوندنوم کنانة بن ربيع وو چې په همدې غزاکې ووژل سو (۱)

دريمه : دصعب بن معاذ کلاوه !

دقموص دکلاله فتح کيدو وروسته دصعب بن معاذ کلا فتح سوه په دې کلاکې غوښه او دخوراک توکي اونور ډيرسامان وو هغه ټول دمسلمانانو لاس ته ورغلو په يوروايت کې راغلي دي چې کله د مسلمانانو دخوراک ښناک توکي لږ سو صحابه رضی الله عنهم رسول الله ﷺ ته راغلل او دعاء غوښتنه يې وکړه په دويمه ورځ دصعب بن معاذ کلافتح سوه مسلمانو ته ډير غنيمتونه په لاس ورغلل چې په هغه سره مسلمانانو ته ډير قوت حاصل سو (۲)

په همدې ورځ رسول الله ﷺ اور وليدې چې ډيروخواووته بل دي رسول کريم ﷺ پوښتنه وکړه دادڅه شئ اور دی ؟ خلکوو ويل غوښه پخيږي . رسول کريم ﷺ پوښتنه وکړه دڅه شئ غوښه ده ، دوئ وويل دکورنی خروغوښه ده . رسول الله ﷺ وفرمايل دامرداره ده ټول وغورزوی اولوښې مات کي صحابه کرام رضی الله عنهم غوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ که غوښه وغورځو اولوښی په اوبوپريولو څنګه ده ؟ رسول کريم ﷺ وفرمايل ښه ده لوښی ومينځی

څلورمه کلا دحصن قُلّه په نامه وه ،ددې کلاوو له فتح کيدو رووسته يهوديان ولاړل او دحصن قُله پهَ نامه کلاکی يې پناه واخيسته داکلاډيره مضبوطه وه دغره په لمن کې پريوه غونډۍ وه ځکه حصن قله ورته وايې ځکه قله معنی دغره غونډۍ داکلادزبيرپه نامه سره مشهوره سوه ځکه داکلادغنيمت له ويشلووروسته زبير رضی الله عنه ته ورکړل سوه

درې ورځې رسول الله ﷺ داکلامحاصره کړې وه په اتفاقي ډول يويهودی راغلی اورسول الله ﷺ ته يې وويل چې اې ابو القاسم ﷺ که ته ټوله مياشت هم دوئ محاصره کې بياهم دوئ پروانه په کوی ځکه له دوئ سره خوراکی توکی شته اوترځمکه لاندی يوه چينه ده دشپې دوئ راوزی اوله هغې چينی اوبه اخلی اوبيرته کلاته ننوزی که ته پردوئ اوبه بندی کړې نوبيابريالی کيدای سی ، رسول کريمﷺ ددوئ اوبه بندی کړی دوئ مجبورسوچې له کلادباندی راووزی کله چې دوئ راووتل نوسخته جګړه يې وکړه څه مسلمانان هم شهيدان سو ، حافظ ابن کثيروايې : چې داکلا دقله نطاه دسيمی آخرينی کلاوه ددې کلاترفتحی وروسته رسول اکرمﷺ دچپه طرف دکلاګانوولوری ته ولاړی ترټولومخکې يې دابی کلافتح کړه چې له سختی جګړی وروسته فتح سوه اومسلمانان ورننوتل ددی کلاترفتح کيدو وروسته يې نورې کلاګانی هم فتح سوی (۳)

(۱) فتح الباری جلد ۷ /ص / ۳۶۰)
(۲) عيون الاثر جلد ۲ /ص / ۱۳۴)
(۳) البدايه والنهايه جلد ۴ /ص / ۱۹۸)

سیف لودین کتابتون

پنځمه کلا دوطیح اوسلالم کلاوه :

دحصن قله دکلاله فتح کیدو وروسته نبی کریم ﷺ پاته کلاګانو ولوری ته ولاړی کله چی په ټولو کلاووباندی قبضه وسوه نوپه پای کې دوطیح اوسلالم لوری ته ولاړی اوپه یوشمیرروایاتوکې دالکتیبة په نامه دکلایادونه هم سوی ده ترددېدې دوو مخکې ټولی کلاګانی فتح سوی یواځي دغه دوې کلاوی پاته وی دیهودوټول زور اوقوت همدلته سره یوځای سو اوپه دې کلاووکې یه پناه واخیسته ترڅورلس ورځی محاصری وروسته یې دسولی غوښتنه وکړه رسول کریم ﷺ ددوئ غوښتنه ومنله دیهودیانوله لوری ابن ابی الحقیق دسولی دخبرولپاره راغلی رسول کریم ﷺ په دې شرط دسولی خبره ورسره ومنله چی یهود به یوځل دخیبرټول ځمکه پرېږدی یعنی له وطن به شړل کېږی سره اوسپین زراوسلااودجنګ نورسامان به ټول دلته پرېږدی اوهیڅ شئ به هم له ځان سره نه وړی که چیری یې ددې شرطو مخالفت وکي نوالله ﷻ اودهغه رسول ﷺ بریئ الذمه دی (۱)

مګریهودوسره له دې پاخه لوظ اوژمنی بیاهم خپل شرارت ته مخه کړه هغه داسی چی دحیی بن اخطب سره دځرمنی یوه کڅوړه وه چی په هغې دوئ ټولوسره زر اوګینی اچولی وودوئ همداکڅوړه پټه کړه . رسو ل کریم ﷺ کنانة بن الربیع راوغوښتی اوپوښتنه یې ځنی وکړه چی هغه دځرمنی کڅوړه چیری دی کنانة وویل په جنګ جګړوکې مصرف سوه . رسول الله ﷺ وفرمایل وخت خودومره نه دی تیرسوی اومال ډیر وو ، دادابن سعدروایت دی دابوداؤدپه روایت کې راغلی دی چی له سعیئه څخه یې پوښتنه وکړه دبیهقی (۲) اودابن سعدپه یوه بل روایت کې راغلی دی چی له کنانة اودده له وررور اونوروپهودیې وپوښتل ټولوهمداوویل چی هغه خوپه جنګ کې مصرف سوه ، رسول کریم ﷺ وفرمایل که چیری هغه کڅوړه پیداسوه نوبیاستاسوخیرنسته ، دایې وفرمایل اویوه انصاری ته یې امروکي چی ولاړسه فلانی ځای کې دونی په ریښه کې داکڅوړه ښخه ده رایې وړه هغه انصاری ولاړی اوکڅوړه یې راوړه په کڅوړه کې دلس زره دینارو په اندازه مال وو ، په دې جرم یې هغه ټول ووژل (۳)

اوله دې پرته دکنانه یوبله ګناه داهم وه چی دمحمدبن مسلمه ؓ وروږمحمودبن مسلمه ؓ هم په دې جګړه کې شهیدسو ځکه رسول کریم ﷺ کنانه یهودی محمدبن مسلمه ؓ ته وسپاری چی دخپل وررومحمودبن مسلمه ؓ په بدله کې یې په خپله قتل کړه (سیرة ابن هشام) .

تنبیه :. دخیبردکلاوودفتح کوم ترتیب چی دی ناچیزبنده یادکړی دی چی لومړی دناعم کلافتح سوه اوبیادقموص کلافتح سوه ورپسی دصعب کلا اوبیاپه پای کې وطیح

---

(۱) زادالمعاد جلد ۲ /ص /۱۳۶)

(۲) حافظ عسقلانی دبیهقی ددې روایت په اړه وایي (رواه البیهقی باسناد رجاله ثقات من حدیث ابن اعمر ؓ ، فتح الباری /۷/ ص /۳۶۷غزوه خیبر) .

(۳) زرقانی جلد ۲ /ص /۱۲۹)

سیف لودین کتابتون

او سلالم کلا فتح سوی دا ترتیب د سیرة ابن هشام او البدایه والنهایه لابن کثیر جلد ۴ /ص / ۱۹۳ کې یاد سوی دی دا حادیث او د سیرة په کتابو کې له دې پرته د نورو کلاگانو هم یاد و نه سته او د فتح ترتیب مختلف دی علامه حلبی رحمة الله علیه په سیرت حلبیه کې لیکلی دی چې د نطاق په سیمه کې درې کلاوې وې حصن ناعم، حصن قله، حصن صعب، تر ټولو مخکې د ناعم کلا فتح سوه کوم یهود چې د ناعم له کلا وتښتیدل دوئ د نطاق سیمی په بله کلا حصن صعب بن معاذ کې پناه واخیسته دوې ورځې دا کلا محاصره سوه په دویمه ورځ د لمر لویدو مخکې دا کلا هم فتح سوه، وروسته رسول کریم ﷺ د حصن قلّه کلا محاصره کړه دې کلا ته حصن قله ځکه وایې چې د قله معنی دغره دغونډۍ ده دا کلا دغره په غونډۍ باندې وه ځکه دغره کلا ورته وایې دا کلا تر فتح وروسته زبیر رضی الله عنه ته ورکړل سوه ځکه ورته قلعه الزبیر رضی الله عنه هم وایې دا درې واړه کلاوې د نطاق د سیمې وې

وروسته مسلمانانو چپه طرفته پر مخ تګ وکي په دې سیمه کې دوې کلاوې وې یوه د حصن اُبی په نامه دویمه حصن برئ لومړی کلا چې د ابی په نامه او دویمه چې د برئ په نامه دواړې فتح سوې، کله چې دا سیمه هم فتح سوه نو یهود ټول وتښتیدل او د کتیبه په نامه کلا وو کې یې پناه واخیسته د کتیبه په سیمه کې درې کلاوې وې، قموص، وطیم، سلالم، تر ټولو مخکې قموص کلا د علی رضی الله عنه په لاس فتح سوه دویمه دوطیح کلا دریمه سلالم کلاوه دا کلاګانې محاصره سوې تر څورلس ورځې محاصرې وروسته یهودیانو غوښتنه وکړه چې موږ او زموږ اهل او عیال دې ژوندې پرېښودل سي موږ خیبر پرېږدو وزو؟ رسول الله ﷺ دا ورسره ومنل (۱)

تر خیبر وروسته د فدک فتح

کله چې د فدک یهود په دې خبر سو چې د خیبر یهودیانو په دې شرائطو سوله کړې ده نو دوئ هم رسول کریم ﷺ ته پیغام ولیږی چې موږ ته دې امان راکړل سي موږ به ټول مال او توکي پرېږدو او له وطن به کډه کوو، رسول کریم ﷺ ورسره ومنله او د محیصة بن مسعود له لاری خبری وسوې، او فدک هم فتح سو، لکه څنګه چې فدک پرته له څه جنګ او جګړې فتح سو و هغه ځای ته لښکرنه ولیږل سو ځکه د فدک غنیمت یوائې د رسول الله ﷺ سو د خیبر د غنیمتو په څیر پر مجاهدینو نه ویشل سو (سیرة ابن هشام)

د خیبر په غزاکې څورلس یا پنځلس صحابه کرام رضی الله عنهم شهیدان سو او درې نوی یهود ووژل سو تر فتح وروسته چې کله د غنیمت مال او بندیان رایو ځای سو نو په دوئ کې صفیه د حیی بن اخطب لور او د کنانة بن ربیع ښځه هم شامله وه د دې واده په نژدې شپو او ورځو کې سوی وو، حیی بن اخطب د هارون علیه السلام له اولادې څخه وو تر جګړې وروسته چې کله

سیف لودین کتابتون

بندیان رایوځای سو نو دحیه رضی الله عنه غوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ یوه وینځه ماته راکړه، نبي کریم ﷺ وفرمایل چې ستاخوښه وی کومه وینځه چې ته غواړې هغه ستاده، دحیه رضی الله عنه صفیه غوره کړه، صحابه کرامو رضی الله عنهم وویل یارسول الله ﷺ صفیه دیهودو دمشرلورده داستالپاره مناسب ده ځکه رسول کریم ﷺ صفیه بیرته ځنې وغوښتنه اوپه بدل کې یې دصفیه داکالور دحیه رضی الله عنه ته ورکړه رسول کریم ﷺ صفیه آزاده کړه اونکاح یې ورسره وکړه (۱) دصفیه رضی الله عنها دنکاح پوره بیان به ان شاء الله تعالی دامهات المؤمنین په بیان کې راسی لکه څنګه چې دبنی المصطلق په غزاکی رسول کریم ﷺ جویریه په نکاح کړه ددې دکورنۍ عزت أو مرتبې ته په کتو سره معامله وسوه دغه رنګه په دې ځای کې له صفیه رضی الله عنها سره دهغې دکورنۍ دعزت اودهارون علیه السلام دنسل کیدو له کبله یې هغه ازاده کړه اوپه خپله یې نکاح ورسره وکړه.

ورسول الله صلی الله علیه وسلم ته دزهرورکولو پیښه!

رسول کریم ﷺ دخیبرله فتح وروسته ثوورځی په خیبرکې پاته سو په همدی شپوورځوکې یوه ورځ زینب بنت حارثه دسلام بن مشکم ښځی یوکباب سوی پسه دهدیه په ډول رسول کریم ﷺ ته راوړی خو په هغه کې یې پټ زهراچولی وو، رسول کریم ﷺ په څکلوسره سمدستی پوه سو خوبشربن براء بن معرور رضی الله عنه چې له نبی کریم ﷺ سره یوځای خوراک کوی څه وخوړی نبی کریم ﷺ وفرمایل، لاس بنده کړه ځکه په دې غوښه کې زهرګډ سوی دی، زینب یې راوغوښته اوپوښتنه یې ځنی وکړه چې داکاردې ولی وکی هغې ومنله چې رښتیاهم مایه دې پسه کې زهرګډ کړی وو ددې لپاره چې وماته دامعلومه سی چې که رښتیاته نبی یې نوتاته به الله تعالی خبردرکوی اوکه نه وی نوخلک به ستاڅخه خلاص سی رسول کریم ﷺ دخپل ځان دبدلی داخیستلوپه نیت هغې ته هیڅ هم ونه ویل مګروروسته چې کله بشربن براء بن معرور رضی الله عنه دهمدې زهروله کبله شهیدسو نوزینب بنت حارثه یې دبشروارثانوته وسپارله هغوئ دبشربن معرور رضی الله عنه په قصاص کې ووژله، دبیهقی په روایت کې راغلی دی چې زینب دجرم له منلووروسته اسلام راوړی اودایې وویل چې ماته اوس ستارښتینوالی بیخی ښکاره ثابت سو ته اوستادمجلس ټول حاضرخلک پردی شاهدکوم چې زه ستاپه دین یم اواقرارکوم چې له الله جل جلاله پرته بل هیڅوک دعبادت وړنسته اومحمد ﷺ دالله جل جلاله بنده اودهغه رسول دی، زهری اوسلیمان دنه وژلووجه همدا ښودلی ده چې رسول کریم ﷺ ځکه نه ووژله چې دې اسلام راوړی وو (۱)

(۱) فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۳۶۰)
(۲) فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۳۸۰)

سیف لودین کتابتون

مخابره : دخیبر ځمکې بیرته یهودو ته په بزګرۍ وسپارل سوې !

کله چې خیبر فتح سو او ځمکه ټوله دالله ﷻ او دهغه رسول ﷺ او دمسلمانانو سوه نو رسول کریم ﷺ اراده وکړه چې یهود دپریکړې برابر له وطن وشړل سي مګر یهودو غوښتنه وکړه چې تاسو موږ پرېږدئ ځمکه پرېږدی موږ به کښت کوو کوم حاصل چې له دې ځمکې لاس ته راځي دهغه نیمایي برخه به تاسو ته درکوو ؟ رسول کریم ﷺ ددوئ داغوښتنه ومنله او دایې په ښکاره ورته وفرمایل (نقرکم علی ذلک ماشئنا) موږ تاسو تر هغه وخته پرېږدو چې زموږ خوښه وي (بخاری شریف جلد ۱ /ص / ۳۱۵ کتاب المزارعة باب اذا قال رب الارض اقرک ما اقرک الله الخ، فتح الباری جلد ۵ /ص / ۲۱۶ وصفحه ۲۳۹ کتاب الشروط باب اذا اشترط فی المزارعة اذا شئت اخرجتک)

دامعامله تر ټولو لومړی په خیبر کې سوې ده ځکه ودې معاملې ته مخابره وویل سو کله چې به دغلو دانو وخت راغلی نو رسول کریم ﷺ به دحاصلاتو داندازه کولو لپاره عبدالله بن رواحه رضی الله عنه خیبر ته لیږی (سنن ابی داؤد جلد ۲ /ص / ۱۲۸)

عبدالله بن رواحه رضی الله عنه به غله پر دوو برخو ویشله او یهودو ته به یې وویل چې کومه برخه ستاسو خوښه وي هغه واخلی ، یهودو چې به کله دمسلمانانو عدل او انصاف ولیدی نو ویل به یې چې په داسي عدل او انصاف سره اسمان او ځمکه ولاړ دی ، په یوروایت کې راغلی دی چې عبدالله بن رواحه رضی الله عنه به داسي ورته ویل (یامعشر الیهود انتم ابغض الخلق الیّ قتلتم انبیاء الله وکذبتم علی الله ولیس یحملنی بغضی ایاکم ان احیف علیکم) (۱)

اې یهودیانو په ټول مخلوق کې زما په نزد تاسو ډیر بدخلک یاست تاسو دالله پیغمبران وژلي دي او تاسو په الله ﷻ پسې دروغ ویلي دي مګر ستاسو کینه ماهیڅکله ودې ته نه اړکوي چې زه ستاسو سره ظلم وکړم ..

دابوهریرة رضی الله تعالی عنه راتګ وخیبر ته :

ابوهریره رضی الله عنه او دهغه ځوملګري دخیبر له فتح وروسته دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو خو رسول کریم ﷺ ودوئ ته دغنیمت برخه نه ورکړه (بخاری شریف غزوه خیبر)

دخیبر دغنیمتو ویش څنګه وسو ؟

دخیبر په غنیمتو کې سره زر او سپین زرنه وو بلکې غوایې او ښان او څه نور سامان وو تر ټولو غنیمت دخیبر ځمکې او باغونه وو دځمکو پر ته چې کوم غنیمت وو هغه نبی کریم ﷺ دقرآني نص برابر په مجاهدینو وویشل او ځمکې یې یوازې دحدیبیه په صحابه رضی الله عنهم باندې وویشلې .

دحدیبیه دعمرې په نیت چې کله رسول کریم ﷺ له مدینې منورې روان سو نو کوچیانو ته یې بلنه ورکړه چې په دې سفر کې ورسره ملګري سي ، ځکه له رسول کریم ﷺ سره دااندیښنه وه چې دبدر دوژل سویو داحزاب او احدله کبله دقریشو زړه دمسلمانانو له کین او دښمنۍ ډک دي هسې نه چې مکې ته په داخلید وسره جګړه وسي یاقریش زموږ مخه ونیسي ځکه په دې وخت کې دعقل غوښتنه داوه چې له نبی کریم ﷺ سره ډیر ملګري ولاړ سي ددې لپاره چې دقریشو دجنګ مخه ونیسي خو د رسول کریم ﷺ له بلنې سره بیاهم ډیرو صحرایانو دابلنه ونه منله او ډیرو خود خپلو اړتیاوو او ابوختیا بهانه وکړه مخلص

سیف لودین کتابتون

ملګرتیایي او د رسول الله ﷺ د ر ښاروښانه وو په ایمان دایمان ته تر پښو پوری سره له چې مسلمان په حدیبیه کې نژدې ته مکې سو ملګری سره ﷺ الله رسول له ګټله بختی نیک آخرت او دنیا د صبروکي ﷺ کرام صحابه ټولو باندی پردی سوه پيښه سوله مغلوبانه او سو ودرول کي لوری له ﷺ الله د نو سو ښکاره اخلاص مسلمانانو مخلصو د کې سفر په حدیبیه د چې کله فتح خیبر به تاسو چې ژرده چې سو نازل زيری فتح د خیبر د ټکورلپاره زړه سوی مات ددې ته حدیبیه چې دی ځانګړی چالپاره دهغه غنیمتونه خیبر د چې سو نازل حکم اوداهم کوی سورة فتح د کې کتابو په تفسیر د نو کاروی په تفصیل مو که (۱) لری نه برخه کې دې په به څوک بل دی تللی تفسیراو ترجمه وګوری)

اوس دې ته راځو چې رسول کریم ﷺ د خیبر ځمکی څنګه وویشلی ددې ویش بیان په سنن ابی داؤد کې یادسوی دی هغه داسی چې رسول کریم ﷺ د پنځمی برخی له بیلیدوروسته د خیبر ټوله ځمکه پر شپږدیرش برخوو ویشله په شپږدیرش برخوکې یې اتلس برخی جلاکړی د ټولو مسلمانانو د اړتیاو و پوره کولو لپاره او پاته اتلس برخی یې د حدیبیه په مجاهدینو وویشلی او هره یوه برخه یې بیا پر سل باندی وویشله دا ټول یې د الله ﷺ دامر برابر وویشلی

د خیبر د ځمکو هغه برخه چې رسول کریم ﷺ ونه ویشله هغه ، الکتیبه ، الوطیح ، سلالم ، او له دې سره موښتنی ځمکی وی

او هغه برخه چې د حدیبیه پر مجاهدینو وویشل سوی .هغه د ، شق، او نطاة ، او له دوئ سره موښتنی ځمکی وی دا روایت په سنن ابی داؤد کې له سهل بن ابی حثمه ﷺ څخه موصولاً او له بشیر بن یسار تابعی څخه مرسلاً روایت سوی دی (۲)

امام طحاوی وایې چې نبی کریم ﷺ د خیبر ټوله ځمکه نه کړه تقسیم یوائی دشق ، نطاة او له هغوئ سره موښتنی ځمکی یې د حدیبیه پر مجاهدینو وویشلی او پاته ټوله ځمکه یې د عامو مسلمانانو د ښیګڼو او اړتیاوو لپاره پریښوده (۳)

اوس راځو دی خبری ته چې همدا اتلس برخی څنګه وویشل سوی په دې کې روایتونه بیلابیل دی په مشهورروایت کې راغلی دی چې د حدیبیه ټول مجاهدین څورلس سوه وو چې په دوئ کې دوه سوه آسانوو الاوو د څورلس سوه تنو څورلس برخی سوی ځکه هره برخه سل حصی وه دا امام مالک او امام شافعی او امام احمد او نور علماء رحمهم الله په نزد د سپاره لپاره دوې برخی د ی پرته له خپلی برخی نو دوه سوه سپرو لپاره څلورسوه برخی سوی نو په دې طریقه د څورلس سوه برخو سره چې څلورسوه نوری جمعه سی اتلس سوه برخی جوړېږی

(۱) ازالة الخفاء لشاه ولی الله جلد ۱ /ص / ۳۸)
(۲) ابوداؤد جلد ۲ /ص / ۴۲۵) ، او بذل المجهود جلد ۴ /ص / ۱۴۵)
(۳) شرح معانی الاثار جلد ۲ /ص / ۱۴۴)

سیف لودین کتابتون

اوپه سنن ابی داؤدکې له مجمع بن جاريه ﷺ څخه روايت دی چی په خیبرکې دلښکرشمیرپنځلس سوه وو په دوئ کې دري سوه سپاره وو ، رسول کریم ﷺ هرسپاره ته دوې برخې ورکړی اوپلی ته یې یوه برخه ورکړه (۱) داروایت دامام ابوحنیفه دمسلک برابردی دهغه په نزددسپاره لپاره یواځی دوې برخې یوه برخه په خپله دسپاره اوبله برخه یې دآس ده لکه چی داله ابوموسی اشعری ﷺ اوعلی ﷺ څخه هم نقل سوی دی نوپه دې حساب سره دپنځلس سوه برخوڅخه ددرې سوه تنه شپږبرخی سوی اوهره برخه دسل کسانوسوه اوپاته برخی ددولس سوه کسانودولس ۱۲برخی سوی اودولس اوشپږچی سره جمعه کې اتلس سوه پوره کیږی

فائدة للمدرسين

قال ابن الملك هذا رأی حديث مجمع بن جارية مستقيم على قول من يقول لكل فرس سهمان لان الرجالة على هذه الرواية تكون الف ومأتين ولهم اثناعشر سهما لكل مأة سهم وللفرسان ستة اسهم لكل مأة سهمان فالمجموع عشر سهما اما على قول من قال للفارس ثلاثة اسهم فمشكل لان سهام الفرسان تسعة وسهام الرجالة اثناعشر فالمجموع احدوعشرون سهما انتهى كلام العلامة القاری)

خلاصه دخبری داده چی دخیبرځمکی نیمه برخه دحدیبیه په مجاهدینوویشل سوه له دوئ پرته بل څوک په دې کی شریک نه سو مگر له احادیثوڅخه داڅرگندیږی چی دخیبرله فتح وروسته اصحاب سفینه یعنی کښتی والا لکه جعفر ﷺ اوابوموسی اشعری ﷺ اوددوئ ملگری چی ددوئ شمیرتر سلوزیات نه وو دحبشه څخه راغلو رسول کریم ﷺ ودوئ ته هم څه برخه ورکړه خودامعلومه نه ده چی دې صحابه کرام ﷺ ته یې له غنیمت برخه ورکړه اوکه یې له هغه پنځمی برخې ورکړه چی له غنیمت ایستل سوی وه اوکه یې له نورو منقوله مالوڅخه ورکړه اوکه یې له غنیمت دمرستی په ډول یوڅه ورکړل اوبل داچی په خپله خوښه رسول کریم ﷺ ورکړه اوکه دنورومجاهدینوپه اجازه سره وو (فتح الباری وشرح شیخ الاسلام دهلوی (۲)

دخیبرپه غزاکې څه مریان اوښځې هم دمجاهدینودمرستی لپاره راغلی وو هغوئ ته رسول کریم ﷺ دخیبرله لاس ته راغلیوغنیمتوڅخه څه دمرستی په ډول ورکړل اوله ځمکویې ودوئ ته هیڅ برخه ورنه کړه لکه چی دابوداؤداوترمذی اونسائی له روایاتومعلومیږی (۳)

مهاجرو ﷺ وانصارو ﷺ ته بیرته خپل باغونه وسپارل !

دهجرت په پیل کې چی کله مهاجرله مکی څخه مدینی منوری ته راغلونودمهاجرودمرستی اوکومک لپاره انصارو ﷺ څه ځمکی اوباغونه دوئ ته ورکړه چی په دې باغوکې کارکوی اوپه خپله هم کته ځنی اخلی اوڅه کته موږته راکوی ،

(۱) بذل المجهود جلد ۴ ص / ۱۴۶)
(۲) عمدة القاری جلد ۷ ص / ۱۴۷،، قسطلانی جلد ۵ ص /۳۰۹)
(۳) البدایه والنهایه جلد ۴ ص / ۲۰۴)

دخیبرله فتح وروسته مهاجرین کرام رضی الله عنهم له مرستی اوکومک څخه لاپرواسو نوځکه مهاجرو رضی الله عنهم دانصارو رضی الله عنهم ځمکی بیرته وروسپارلی ، دانس رضی الله عنه مور ام سلیم هم رسول کریم ﷺ ته څو دخورماونی ورکړی وی رسول کریم ﷺ دام سلیم رضی الله عنها دمور ونی خپل دایه ام ایمن ته یعنی داسامه بن زید رضی الله عنه مورته ورکړی وی دخیبرله فتح وروسته چی کله مهاجرینو ځمکی انصارو رضی الله عنهم ته وسپارلی ام سلیم رضی الله عنها هم درسول کریم ﷺ څخه خپلی درختی وغوښتی داهغه ونی وی چی ام ایمن ته ورکړل سوی وی رسول کریم ﷺ ام ایمن ته وفرمایل چی دام سلیم رضی الله عنها ونی بیرته ورکړه خوام ایمن له سپارلو څخه انکاروکي اودام سلیم په غاړه کی یې کپړه واچول اوراکش یې کی وی ویل چی قسم په الله ﷻ که داونی هیڅکله بیرته دروسپارم ، ام ایمن درسول کریم ﷺ دایه اودکوچنی والی پالونکي اودده دپلار مینځه وه ځکه رسول کریم ﷺ دام ایمن خوابدی نه غوښتل نونبی کریم وفرمایل اې ام ایمن ته داونی بیرته ورکړه ددې په بدل کې به زه نوری ونی درکړم نبی کریم ﷺ دیرورته وویل خودې نه ورسپارلی وروسته نبی کریم ﷺ په خپل ځانی جایداد کې دهری ونی په بدله کې لس ونی ورکړی نوبیاام ایمن راضی سوه رسول کریم ﷺ دپاللو اوخذمت په حق کې له ام ایمن سره دامعامله وکړه ، صلی الله علیه وسلم وشرف وکرم (۱)

مسئلی اوحکمونه

په دې غزاکې دحلال اوحرام کوم اقسام چی نازل سوی دی یاکوم مهمی مسئلی چی په دې غزاکې پیښې سوی دی له دې څخه فقهاء کرام ډیر مسائل راکښلی دی هغه په لنډول تاسوته وړاندی کوو :

(۱) مسئله : دمحرم په میاشت کې جنګ اوجګړی کول : ؟

دامخکی تیرسوچی دخیبر دغزالپاره رسول کریم ﷺ دمحرم الحرام په میاشت کې وتلی دی نوله دې معلومه سوه چی په شهرحرام یعنی عزتمند ومیاشتو کې جنګ جګړی منع نه دی اودکوم آیاتواواحادیثو څخه چی په شهرحرام کې دجنګ منع راغلی ده هغه منسوخ دی که موتفصیل په کاروی نو (يَسْئَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ) اودسورة توبه داآیت (منها اربعة حرم) تفسیروګوری .

(۲) دویمه مسئله : دځمکوویشل :

دامودرته بیان کړه چی رسول کریم ﷺ دخیبرټوله ځمکه پرغانیمنوباندی نه ده ویشلی بلکې یوائی دشق اونطاة اوله هغوسره موښتی ځمکی یې وویشلی ،الکتیبه اووطیح اوسلالم اوله هغه سره موښتی ځمکی یې دمسلمانانودارتیاوولپاره پریښودی له دې معلومیږی چی دهیوادپاچااوامیرته په فتح سوی ځمکوکې اختیارسته چی څه مصلحت وګڼی هغه دی وکړی که غواړی چی پرمجاهدینوباندی یې وویشی اوکه غواړی دهغه ځای داوسیدونکوپه واک کې پریږدی اوپرهغوئ مالیه وټاکی اودامام ابوحنیفه اوامام مالک اوصاحبین اوسفیان رحمهم الله هم همدارایه ده

---
(۱) فتح الباري جلد ۵ ص/ ۱۸/ (۲) قسطلاني جلد ۴ ص/ ۳۵۴/

سیف لودین کتابتون

دامام شافعي رحمه الله مذهب دادی چي دنوروغنیمتوپه شیرځمکې هم باید پرمجاهدینو وویشل سي اودوئ دخیبردځمکې دنه ویش داتأویل کوي چي دخیبرنیمه برخه په زورفتح سوه اونیمه برخه یې په سوله نوکومه نیمه برخه چي په زورفتح سوه هغه یې وویشله اوکومه نیمه برخه چي په سوله فتح سوه هغه یې پرېښوده مګرداحادیثواوسیرت په ټولورِوایاتوکي ددې خبری تصریح سوی ده چي ټول خیبرپه ډیرسخت جنګ اوسختۍ مقابلې فتح سوی دی کله چي یهودله زوره ولویدو نومجبوره سو اوله کلاوو راکښته سو اوله هررنګه ملکیت اوغوښتني لاس په سرسو اوپه دې خبره راضي سو چي په ځمکواوباغوکي به ددوئ هیڅ برخه نه وی بلکې دمزدورانوپه شیربه دوئ دځمکې پالنه کوی او ترڅه وخت چي دمسلمانانو خوښه وی ترهغه وخت به دوئ پرځمکو پاته وی اوکله چي مسلمانان وغواړی نودوئ به له ځمکې شړل کیږی یهودیوائې دمزدورانواوبزګرانوپه شیرپاته سو دهیڅ یوی ځمکې اوسرای مالکان نه وو اورسول کریم ﷺ دسولې په وخت کې ښکاره پردوئ داشرط کیښودی چي کله موږ وغواړو نوځمکه به بیرته له تاسواخلو اودهمدی شرط په بناء باندی عمرفاروق رضي الله عنه دخپل خلافت په وخت کې ټولې ځمکې له دوئ واخیستې اودوئ ټول یې وشړل له دې معلومه سوه چي ټول خیبرپه زورفتح سوی دی اودکوموغټوعلماءکرام لکه امام مالک رحمه الله اوداسی نوروله خبری بیادامعلومیږی چي دخیبرنیمه برخه په زور اونیمه په سوله فتح سوی ده دهغه معنی اصطلاحي نه ده بلکې دهغه مراد دادی چي په پیل کې یهودو جګړه وکړه مګر وروسته یې چي کله ماتې وخوړه نومجبورسو سلاح یې وغورزوله اودجنګ دپای ته رسیدوغوښتنه یې وکړه له دې تسلیمدو اوسلاح غورزولو څخه یوشمیرعلماء دصلح په لفظ تعبیرکړی دی یعنی نیم خیبرپه جنګ فتح سو اونیم خیبرپه سوله فتح سو ددې مسئلې تفصیل که موپه کاروی نوازالة الخفاء لشاه ولی الله واحکام القرآن للجصاص اوشرح معانی الاثار للطحاوی باب مایفعل الامام بالارض المفتوحة ته رجوع وکړی دارنګه تیسیرالقاری وشرح شیخ الاسلام ته هم رجوع وکړی (۱)

(۲) مسئله هغه شیان چي په خیبرکې منع سو :

په خیبرکې رسول کریم ﷺ له څوشیانو منع وکړه **لومړی** دکورنی خرودغوښې له خوړلو یې منع وکړه **دویم** : دغنیمت مال چي ترڅو ونه ویشل سي ترهغوپوری یې دپلورلو منع وکړه **دریم** : باید ترویشلو مخکې استعمال نه سی **څلورم** : دآسانودغوښې اجازه یې ورکړه چي په دې کې دفقهاء اختلاف دی ددې ټولو شیانو تفصیل په زرقانی جلد ۲ /ص/ ۲۳۳ ترص/ ۲۳۹ وګوری)

(۱) تیسیرالقاری جلد ۳ /ص/ ۱۵۸)

سیف لودین کتابتون

(۴) مسئله دمتعت حرام والی :

په صحیحین کې له علی کرم الله وجهه څخه روایت دی چی رسول اللهﷺ په خیبر کې دمتعة څخه منع وکړه اوله دې روایت پرته دقرآن کریم له ډیرو آیاتو څخه دمتعت حراموالی ثابتیږی **لومړی** ـ۱ـ ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ﴾(۵)﴿إِلاَّ عَلَى أَزْوَاجِهِمْ اوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ﴾(۶)﴿فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاء ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ﴾(۷)سورة المؤمنون)

ژباړه : یعنی کامیابی اوغوره والی په دې کی دی چی مومنان دخپل فرج اوشرمګاه پوره ساتنه وکړی پرته له خپلی ښځي اووینځی څخه جماع روا نه ده اوڅوک چی ددې دواړولاروپرته بله کومه لار راباسی نوداهغه کسان دی چی دشریعت له حدودوتیری کونکی دی ..

اودشیعه ګانوپه نزد هم هغه ښځه چی له دې سره متعت وسی هغه نه مینځه ده اونه آزاده ښځه ځکه دمتعت دښځی لپاره نه شهادت سته نه اعلان نه خوراک اونه ګټه نه سکنی اونه طلاق سته نه لعان سته اونه ظهارسته نه ایلاء سته اونه عده سته اونه میراث سته .

دویم دلیل دادی لکه چی الله تعالی فرمایي ﴿فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ﴾(۳آیت سورة النساء) الله ﷻ دنکاح اندازه معلومه کړی ده چی ترڅلوروزیاتی ښځي نه روا اوپه متعت کې نه اندازه معلومه ده اونه کوم خاص شمیرسته **دریم** داچی ددې بدرواج دجاری کیدو په صورت کې دنکاح کولوضرورت هم نه پاته کیږی ځکه ډیرنکاح کونکی دنفسانی غوښتنودپوره کولولپاره نکاح کوی اوداغوښتنه چی کله په متعت سره پوره سی نوبیادنکاح څه اړتیا پاته کیږی ..

دمتعت دحراموالی اعلان کله وسو ؟

داسلام په پیل کې دحلال اوحرام ډیرحکمونه په ورو ورو نازل سوی دی لکه دشراب اوسود دحراموالی حکم داحکم تربعثت تقریباپنځلس یاشل کاله وروسته نازل سو دغه رنګه دمتعت په اړه دالله ﷻ دحکم ترنازلیدو مخکې دجاهلیت په وخت کې دارواج وو خلکودپخواپه څیرمتعت کوی دخیبرترغزاپوری دمتعت په اړه هیڅ صریح اوښکاره حکم نه وو نازل سوی ترڅولومخکی دخیبرپه جنګ کی چی دهجرت اووم کال وو رسول اللهﷺ دمتعت اودکورنی خرودغوښودحراموالی اعلان وکي لکه چی له علی کرم الله وجهه څخه په صحیح سند سره روایت سوی دی (بخاری ، مسلم)

اووروسته بیادهجرت داتم کال په پای کې داوطاس جګړه پیښه سوه په هغه کې یوائی ددرې ورځولپاره دمتعت اجازه وسوه اودااباحت معنی دا ده چی کوم خلکوچی دمخکی

په ځیر متعت کړی وو او په خیبر کې دمتعت د حراموالي حکم نازل سوی وو دوئ په هغه خبرنه وو په دې ناخبری کې چې کوم خلکو متعت وکړ پر دوئ باندی ملامتیا نسته مګر تردی وروسته چې کله رسول الله ﷺ د عمری لپاره مکی معظمی ته تشریف راوړی نو دکعبی دواړه درشل یې په لاس کې ونیول او داسی یې وفرمایل : چې متعت ترقیامته پوری دتل دپاره حرام دی دمکی له فتح وروسته په زرهاوو خلک په اسلام کې داخل سو هغوئ دمتعت په حرام والی باندی خبرنه وو دناخبری په وجه یې دجاهلیت درواج مطابق دې نویو مسلمانانو دا وطاس په جګړه کې متعت وکي رسول الله ﷺ چې کله په دې خبرسو نو دکعبی پردروازه ودریدی اودمتعت دهمیشنی حرمت اعلان یې وکي وروسته بیادتبوک په غزاکی څه ښځي دمسلمانو دخیمو خواته ولیدل سوی ګرزیدی رسول کریم ﷺ پوښتنه وکړه چې دا ښځي څوک دی ؟ دوئ ورته وویل چې دا هغه ښځي دی چې خلکو متعت ورسره کړی دی نو رسول کریم ﷺ ډیر سخت خفه سو او دغصی له کبله یې مخ مبارک سور سو او خطبی دپاره ولاړ سو دالله ﷻ حمد او ثناء یې وویل وروسته یې دمتعت دحرام والی حکم وکي صحابه کرام ﷺ وایې چې تردې وروسته مونږ هیڅکله متعت نه دی کړی اودتل دپاره مو دا اراده وکړه چې هیڅکله به متعت نه کوو (کذافی کتاب الاعتبار للامام الحازمی صفحه ۱۸۰) (۱)

نو درسول الله صلی الله علیه وسلم دا ډیر خفه کیدل حتی چې د مخ مبارک رنګ سور کیدل ددې خبری ښکاره دلیل دی چې دمتعت حراموالی او مخالفت نبی کریم ﷺ مخکې لا کړی وو بلکې دوه ځله یې کړی وو دمتعت له حرمت څخه یې خبر کړی وو اول ځل په خیبر کې اودویم ځل دا وطاس په غزاکی نو ددوه ځلی ممانعت وروسته چې کله وسو (که څه هم هغه دناخبری له وجی وو) ځکه په رسول الله ﷺ باندی دا خبره ډیره ګرانه تمامه سوه اودغصی له امله یې مخ مبارک سور سو اودریم ځل یې دحرمت په اړه خطبه وویله او ډیر ټینګاریې وکي ، او وروسته یې په حجة الوداع کې دمتعت دحرمت اعلان وکی ددی لپاره چې ټول خلک په دې خبرسی ،،، له یوشمیر روایاتو څخه دمتعت دحراموالی بیابیا اعلان کولو څخه داګمان پیدا سوی دی چې متعت دوه یادرې ځلی حلال سوی دی او بیرته دوه یادرې ځله حرام سوی دی خوداسی خبره نه ده بلکې له دویم ځل اعلان کولو څخه نوی حراموالی نه دی مراد بلکې دهغه مخکني حراموالی دویم اعلان وو ،، دعمرفاروق ﷺ دخلافت په وخت یوشمیر خلکو دناخبری له کبله متعت وکي ، خوکله چې عمرفاروق ﷺ

(۱) اخرج الامام الحازنی باسناده عن جابر بن عبدالله الانصاری یقول خرجنامع رسول الله ﷺ الی غزوة تبوک حتی اذکناعندالعقبة مما یلی الشام حین نسوة فذکرناتمتعنا وهن یجلین فی رحالنا اوقال یطفن فی رحالنافجائنا رسول الله ﷺ فنظرالیهن فقال من هولاء النسوة فقلنا یارسول الله نسوة تمتعنامنهن فغضب رسول الله ﷺ حتی احمرت رجنتاه وتغیرلونه واشدغضبه وقام فیناخطیبافحمدالله واثنی علیه ثم نهی عن المتعة فتواع عنایومئذالرجال ولم نعدولانعودلها ابدا آه)

سیف لودین کتابتون

خبرسو ډیرخفه سو او منبرته پورته سو خطبه یې ولوسته او دمتعت دحراموالی اعلان یې وکې ددی لپاره چی په حرمت کې څه شک پاته نه سی او داسی یې وفرمایل چی زماله دی اعلان وروسته که څوک متعت وکړی نوزه به پر هغه باندی حدزنا جاری کوم له هغه وخت متعت بندسوا وپردی باندی دټولوصحابه کرام رضی الله عنهم اجماع وسوه عبدالله بن عباس رضی الله عنه او یوشمیرنوروچی دنا خبری له وجی دمتعت قائل وو کله چی دوئ دمتعت په حراموالی اومنع خبرسو نودخپلی خبری څخه یې رجوع وکړه لکه چی دابوبکر جصاص په احکام القرآن جلد ۲ /ص /۱۴۷ کې په ډیر تفصیل سره بیان سوی دی علماء حضرات دی ددی آیت (فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً (۲۴ آیت سورة النساء) په تفسیر کې داتفصیل وګوری عبدالله بن عباس رضی الله عنه دهجرت څخه یو یادوه کاله مخکی پیداسوی دی اواته یانه کال له خپل موراوپلارسره په مکه معظمه کی اوسیدی دمکی له فتح وروسته په اتم کال عباس رضی الله عنه له خپلی کورنی سره هجرت وکې عبدالله رضی الله عنه له خپل پلار عباس رضی الله عنه سره مدینی منوری ته راغلی اودخیبرپه غزاکی چی دمتعت دحراموالی اعلان سوی وو هغه دعبدالله رضی الله عنه ترراتګ مخکی وو اوپه دې وخت کې دمتعت کومه پیبنه نه وه سوی عباس رضی الله عنه په خپله په خبرنه وو یوائی له نوروصحابه کرام رضی الله عنهم څخه یې اوریدلی وو ځکه یې دافتوی ورکړی وه چی لکه څنګه چی دمجبوری په حالت کې مرداره اوخنزیرخوړل رواکیږی دغه رنګه دمجبوری په حالت کې متعه هم رواده مګر وروسته چی کله علی کرم الله وجهه اونورو صحابه کرام رضی الله عنهم دمتعت دحراموالی اوترقیامته پوری دحراموالی اومنع روایتونه عبدالله رضی الله عنه ته واورول نوعبدالله رضی الله عنه له خپلی فیصلی رجوع وکړه دعلی کرم الله وجهه څخه دمتعت دحرمت روایتونه بی شمیره راغلی دی خوشیعه دمتعت دومره اندازی پوری عاشقان دی چی دعلی رضی الله تعالی عنه خبره هم نه اوری .. (قال الامام ابوجعفر الطحاوی کل هؤلاء الذین رووا عن النبی صلی الله علیه وسلم اطلاقها اخبروا انهاکانت فی سفروان النهی لحقها فی ذلک السفر بعدذلک فمنع منها ولیس احدمنهم یخبرانهاکانت فی حضر وکذلک روی عن ابن مسعود رضی الله عنه تفسیر قرطبی جلد۵/ص/۱۳۱)

ژباړه : امام طحاوی وایې څومره خلکو چی دمتعت دروا والی بیان کړی دی هغوئ ټولو په اتفاق داهم ویلی دی چی دایوائی دسفرپه حالت کې وو او بیایې داویلی دی چی بیاپه همدغه سفرکی ددې رواوالی وروسته سمدستی دمتعت دحراموالی اعلان سوی دی اویوراوی هم داسی نسته چی هغه دې بیان کړی وی چی دمتعت پیښنه په کورکی سوی ده اوداسی روایت له عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه څخه هم سوی دی (تفسیر قرطبی)

اوهمدغسی امام حازم وایې : (وانماکان ذلک فی اسفارهم ولم یبلغنا ان النبی صلی الله علیه وسلم اباحه لهم وهم فی بیوتهم وکتاب الاعتبار صفحه ۱۷۸) ژباړه : دمتعت چی هره پیښنه راغلی ده نو هغه په سفرکې سوی ده اوموږته هیڅ یوه راوی داخبره نه ده کړی چی رسول الله ﷺ په کوراوخپل ځای کی له اوسیدوسره سره دمتعت اجازه ورکړی وی یعنی داسی هیڅکله نه ... دمتعت اجازه ورکړل سوی وی.

سیف لودین کتابتون

د اسلام په پیل کې څنګه متعت مباح اوروا وو ؟ آیا د شیعه ګانو دا متعت ده که زنا ؟

متعت له متاع څخه جوړ دی متاع معنی لږ ګټه لکه چی الله تعالی فرمایي :

﴿یَا قَوْمِ إِنَّمَا هَذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ وَإِنَّ الآخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ﴾(۳۹)سورة غافر)
او طلاق سوی ښځي ته چی کومه بدله ورکول کیږی هغه ته هم متعت وایې ځکه هغه په نسبت و مهرته لږ ګټه ده لکه چی الله تعالی فرمایي : ﴿وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ﴾۲۴۱سورة البقرة) دا د متعه اصلي معنی سوه د متعت اطلاق په دوو معنا ګانو باندی کیږی یو دا چی له متعت څخه موقت نکاح واخیستل سی یعنی ترمعلوم وخت پوری د شاهدانو په مخکی له یوی ښځی سره نکاح وتړل سی او د معلوم وخت ترتیریدو وروسته پرته له طلاق بیلوالی راسی مګر له بیلوالی وروسته د رحم د پاکوالی د پاره یو حیض باید انتظار وکړی د دې لپاره چی له بلی نطفی سره ګډون رانه سی .. هم دا صورت د اسلام په پیل کې روا وو خو وروسته د تل لپاره ناروا وګرزیدی ،

د متعت دویمه معنی داده چی یو سړی ښځی ته ووایې چی زه به ستا څخه یوه ورځ یا څوورځي ګټه اخلم او ددی په بدل کې به تاته دومره بدله درکوم ،، نو دا ښکاره زنا ده د متعت دا صورت هیڅکله هم په اسلام کی نه دی روا سوی چی منسوخ سنی بلکې د متعت دغه صورت په هیڅ دین کې نه دی روا ځکه د متعت دغه صورت ښکاره زنا ده او زنا په هیڅ دین کې هیڅکله نه ده روا سوی ،،

البته د متعت لومړنی صورت یعنی نکاح موقت یعنی ترمعلومی مودی پوری د شاهدانو په مخکې د ولی په اجازه اړیکی ټینګول او د معلومی مودی له تیریدو وروسته یو حیض عده تیرول دا د مینځ ځای دی یعنی دا معلوم وخت نکاح د نکاح مطلق او زنا په مینځ کې یوه درجه ده چی نه خالص زناده او نه نکاح مطلق ده ځکه په نکاح کې خو طلاق سته عده سته میراث سته او د متعت نکاح خو حقیقی نکاح نه ده بلکې د حقیقی نکاح سره یوائې په ظاهری صورت مشابهت لری ځکه د متعت په دې صورت کې شاهدان هم سته او د ولی اجازه هم ضروری ده او له سړی څخه د بیلوالی وروسته که د بل سړی سره متعت کول غواړی نو ترڅو پوری چې یو حیض پر تیر نه سی تر هغه وخته د بل سړی سره متعت نه سی کولای ځکه دا صورت ته خالص زنا هم نه ویل کیږی او نه خالص نکاح ورته ویل کیږی ، ځکه په دې نکاح موقت کې په لومړی سر کې شاهدان او د ولی اجازه ضروری او په پای کې د رحم د پاکی لپاره یو حیض تیریدل ضروری وی او په نکاح صحیح او مؤیده کې وخت معلوم نه وی او میراث ورلای سی په نورو شرائطو کې دواړه یو دی ، امام قرطبی وایې :

(روی اللیث بن سعد عن بکیر بن الاشج عن عمار مولی الشرید قال سألت ابن عباس ﷺ عن المتعة اسفاح هی ام نکاح قال لاسفاح ولانکاح قلت فماهی قال المتعة کماقال الله تعالی قلت هل علیها عدة قال نعم حیضة قلت یتوارثان قال لا (تفسیر قرطبی جلد/۵/ص/۱۳۲)

سيف لودين كتابتون

ژباړه : امام لیث بن سعد له بکیر بن اشج څخه روایت کړی چې عمار د شرید مریئ وایې چې ما له عبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه د متعة په اړه پوښتنه وکړه چې آیا متعة زنا ده که نکاح ؟ ده وویل ، نه زنا ده او نه نکاح ، ما بیا پوښتنه وکړه چې آخر نو دا څه شئ دی ؟ ده وفرمایل متعة دی لکه څنګه چې الله تعالی پردی باندی د متعة د لفظ اطلاق کړی دی ، ما وپوښتل د متعة پر ښځه باندی عده شته ؟ ده وویل هو د متعت د مودی له پوره کیدو وروسته به ښځه یو حیض موده تیروی ، ما وپوښتل چې دوئ یو د بل میراث وړلای سی ؟ ده وفرمایل نه له دې عبارته په ډاګه معلوم سو چې د متعة نکاح یعنی موقت نکاح مینځنی ځای دی په مابین د نکاح مطلق او خالص زناکی یوه مینځنی درجه ده د اسلام په پیل کې یوائې دا صورت هم د مجبوری په حالت روا وو لکه څنګه چې د مجبوری په حالت کې د مرداری او خنزیر خوړل روا دی تر دی وروسته امام قرطبی وایې (قال ابو عمر یختلف العلماء من السلف والخلف ان المتعة نکاح الی اجل لامیراث فیه والفرقة تقع عند انقضاء الاجل من غیر طلاق وقال ابن عطیة وکانت المتعة ان یتزوج الرجل واذن الولی الی اجل مسمی وعلی الآمیراث بینهما لان الولد لاحق فیه بلاشک فان لم تحمل حلت لغیره وفی کتاب النحاس فی هذا خطاء وان الولد لایلحق فی نکاح المتعة قلت هذا هو المفهوم من عبارة النحاس فانه قال انما المتعة ان یقول لها اتزوجک یوما اوما اشبه ذلک علی انه لاعدة علیک ولامیراث بیننا ولاطلاق ولاشاهد یشهد علی ذلک وهذا هو الزنا بعینه ولم یبح قط فی الاسلام ، ولذا قال عمر لااوتی برجل تزوج متعة الاغیبته تحت الحجارة (تفسیر قرطبی جلد۵/ص/۱۳۲)

خلاصه د دې ټولو خبرو دا را اووته چې په احادیث نبویه کې چې د کوم متعة نکاح روا والی او بیا د هغه حراموالی او منع راغلی ده له هغه څخه د امشهور متعة نه ده مراد لکه شیعه ګان چې یې کوی بلکې له دې څخه هغه نکاح موقت مرادده چې تر معلوم وخت پوری د شاهدانو په مخکی د ولی په اجازه سره وتړل سی او بیا د معلومی مودی له تیریدو وروسته پرته له طلاق سره بیل سی او له یوه حیض تیریدو وروسته بیا دا ښځه پاکیږی دا صورت د اسلام په پیل کې روا وو د اسلام په پیل کې د متعة خاص حکم نه وو نازل سوی لکه د شرابو او سود د حراموالی حکم چې د اسلام په پیل کې نه وو نازل سوی او کوم خلکو چې تر منع کیدو مخکی شراب څښلی وو یا یې سود اخیستی وو د شریعت له لوری په هغوئ باندی هیڅ حد جاری نه سو او نه هغوئ ته څه سزا ورکړل سوه تر دی پوری چې د شراب او سود د حراموالی حکم نازل سو ..

د اسلام په پیل کې د شراب او سود د حلا ل والی دا معنی نه ده چې معاذالله د شریعت له لوری اجازه ورته سوی وه چې د چا چې زړه غواړی شراب دی وڅښي او د چا که زړه غواړی

سيف لودين كتابتون

نو سو ددی و اخلی دغه شان د متعة د موقت نکاح په معنی د اسلام په پیل کې جائز او مباح کیدو د امعنی ده چې د اسلام په پیل کې د متعة نکاح یا موقت نکاح منع نه وه راغلی معاذالله داسی نه ده چې رسول اللهﷺ په خپله د متعة د نکاح اجازه ورکړی وه ، بلکې منع یې نه وه راغلی د متعة د نکاح د حرمت اول اعلان د خیبر په غزاکی وسو او بیا د اوطاس په غزاکی او بیا د تبوک په غزاکی او بیا په حجة الوداع کی ددې لپاره چې ټول خلک د متعة په حراموالی ښه پوره خبرسی ،،

او د متعة د حراموالی په اړه بیا اعلان د مخکې اعلان د تاکید او تائید لپاره وو کوم چې د خیبر په غزاکی رسول کریمﷺ فرمایلی وو بل نوی حکم نه وو ،

او پاته سو د شیعه ګانو متعة چې سړی و ښځی ته یو ورځ یا دوې ورځی یا یو ساعت یا دوه ساعته لپاره څه عوض ورکړی او ګټه ځنی واخلی نو دا خالص زنا او ښکاره بدفعلی ده دا صورت هیڅلکه په اسلام کې جائز او مباح کیږی نه او نه جائز او مباح وو چې منسوخ سی لکه چې زنا نه روا سوی ده او نه منسوخ سوی ده ..

بلکه :: دنړۍ له پیدا کیدو بیا ترا وسه پوری پرته له شیعه ګانو په هیڅ دین کې متعة نه دی روا سوی معاذالله که د شیعه ګانو په څیر متعة جائز او روا سی نو بیا په نسب کې هم زیان راځی او اولاد هم ضائع کیږی او د وارث او مورث پیلوالی هم نه راځی او نه دا معلومیږی چې داد چا زوی او د چا ورور او د میراث او طلاق او عدة کوم شرعی حکمونه چې راغلی دی هغه هم ټول بی ګټی کیږی او بل دا چې شریعت په نکاح کې د څلورو ښځو اندازه ټاکلی ده هغه هم بی معنی کیږی په متعة کې د څلورو ښځو قید نسته ، نه عده سته او نه طلاق نه میراث سته یوائې د متعة په منلو سره د قرآن کریم او احادیث ټول احکام بی ګټی کیږی بلکې د نکاح اړتیا نه پاته کیږی نارینه به خپله اړتیا په متعة سره پوری کوی او ښځي به د خپل خوراک او نفقی او غم او درد ځان ته ذمه واره سی او د بل چا له ذمه واری به بی برخی پاته سی دیوه او بل لاس ته به ګوری او بیا د ځوانی له تیریدو وروسته به څوک د ښځو کفیل او ذمه واروی شیعه ګان دی فکرو کړی چې آیا تر دی بل هم زیات ذلت او سپکاوی سته شیعه ګانو ته په کار دی چې په زړه او ژبه سره د عمر فاروقؓ شکر آدا کی چې د خلافت په وخت کی یې ددی بی حیایې نوم او نښان هم ورک کې ،د متعة د حراموالی تفصیلی دلائل او مفاسد که غواړی ځان ته معلوم کی نو احکام القرآن للجصاص جلد ۲ /ص ۱۱۵ تر ص /۱۴۶ پوری او تحفه اثناعشریه او فتاوی عزیزیه ته رجوع وکړی والله سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتم واحکم ،

د متعت د حراموالی یو عقلی دلیل: هر شریف الطبع او عزتمند سړی د خپلی نکاح ادخپلی خور او لور د نکاح په اعلان فخر کوی او ډیر په خوشالی سره د نکاح ډوډی ته خپل خپلوان او دوستان رابولی او متعة داسی نه دی بلکې هغه پټوی و خپلی خور یا لور ته

سیف لودین کتابتون

دمتعة په نسبت کولو شرمیږی ترننه پوری دهیڅ غیرتمند بلکې دیو بی غیرته په اړه هم چادانه ویلی چی هغه دې په یو مجلس کې دفخرپه ډول ویلی وی چی زما لور یا خور یا مور دومره ځله متعة کړی دی ، اوپه نکاح کی ټول خلک سړی اوښځي ته اودهغوئ مور او پلار ته مبارکی وایې مګر دمتعة په اړه یو ځای هم مبارکی نه ده اوریدل سوی ..

دحبشه ډیر مهاجرین مدینی منوری ته راغله ،

کوم مهاجرینو چی له مکی مکرمی څخه حبشه ته هجرت کړی وو کله چی دوئ په دې خبر سو چی رسول کریم ﷺ له مکی څخه هجرت کړی دی او مدینی منوری ته تللی دی نو په دوئ کې ډیری له حبشه څخه مدینی منوری ته راغلو ، عبدالله ابن مسعود ؓ هغه وخت مدینی ته راورسیدی کله چی رسول کریم ﷺ دبدر لپاره تیاری کوی (۱)

جعفر رضی الله تعالی عنه اوله ده سره څه نور مسلمانان په حبشه کې پاته سو دوئ بیا په هغه ورځ راورسیدل کله چی خیبر فتح سو رسول کریم ﷺ جعفر ؓ ته غاړه ورکړه اوپرتندی یې مچ کي وروسته یې وفرمایل چی زه نه پوهیږم چی دخیبر په فتح ډیر خوشحاله یم او که دجعفر ؓ په راتګ ډیر خوشاله یم (رواه البیهقی عن جابر ؓ)

ابو موسی اشعری ؓ هم له جعفر ؓ سره ملګری وو دئ په خپله وایې چی موږ د رسول الله ﷺ په خذمت کې هغه وخت حاضر سو کله چی هغه خیبر فتح کړی وو دغنیمت له ماله یې موږ ته هم برخه راکړه زموږ څخه پرته چی څوک په خیبر کې شریک نه وو هیچا ته یې هم برخه نه ده ورکړی (دا دبخاری روایت دی دبیهقی په روایت کې راغلی دی چی دصحابه کرام ؓ په خوښه یې دوئ هم په غنیمت کې شریک کړه

دوادی القری اوتیما فتح !

دخیبر له فتح وروسته رسول کریم ﷺ وادی القری ته مخ واړوی ترڅلور ورځی محاصری وروسته یې فتح کړه درسول کریم ﷺ مریي مدعم کجاوه راکښته کوله چی ناڅاپه یو غشی راغلی اوپری ولګیدی چی په همدی سره شهید سو خلکو ویل دده شهادت دی مبارک وی رسول کریم ﷺ وفرمایل نه قسم په الله ﷻ کوم څادر چی ده دغنیمت له مال پټ کړی دی هغه اورپرده باندی بلیږی بل صحابی چی کله دنبی کریم ﷺ له ژبی مبارکی څخه دا خبره واوریدله سمدستی یې د څپلی یوه تسمه راوړه نبی کریم ﷺ وفرمایل دڅپلی یوه تسمه هم خیانت اوددوزخ اوردی (رواه البخاری) وادی القری فتح سو دتیماء خلک چی کله په دې خبر سو نو سمدستی یې له رسول کریم ﷺ سره پرجزیه منلو باندی سوله وکړه (۱)

(۱) فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۱۴۵/ (۲) زرقانی جلد ۲ /ص/ ۱۴۶/

سیف لودین کتابتون

دلمانځه راګرزیدل او دتعریس شپه !

دوادی القری او تیماء له فتح وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینی منوری ته روان سو کله چی مدینی ته نژدی سو نو په یوه کنده کی دشپی په آخری برخه کې پړاو واچوی چی یو ګړی ارام وکوی صحابه کرام ﷺ اورسول الله ﷺ خپله ټول ویده سو هیڅوک هم راوینښ نه سو تردی چی لمررالوړسو خوترټولولومړی رسول الله ﷺ راوینښ سو او ولاړسو اوصحابه کرام ﷺ یې هم ټول راپورته کړه اوله دې میدان دوتلو حکم یې وکی چی دلته شیطان دی کله چی دوئ له دی ځایه ووتل نوبیرته کښته سو او بلال ﷺ ته یې داذان حکم وکي اودس یې وکی اودسهاردوه رکعته سنت یې وکړه وروسته بلال ﷺ اقامت وکی اوپه جماعت یې دسهاردلمانځه قضاراوړه (رواه مسلم عن ابی هریرة ﷺ)

فوائد: لومړی فایده : په لمانځه اوعبادت کې دانبیاء علیهم السلام څخه دغفلت په وجه هیڅکله سهوه نه کیږی بلکې دالله ﷻ له طرفه په سهومبتلاکیږی ددی لپاره چی امت ته دسهوی مسائل معلوم سی ځکه که رسول الله ﷺ ته داسهوه نه وه پېښه سوی نو امت ته به دقضاسوی لمنځود قضاء مسئله څنګه معلومیده اوکه دماپښین یامازیګرپه دویم رکعت یادریم رکعات په هیره سره سلام نه وی ګرزولی لکه چی په حدیث دذوالیدین کې دی) نوامت ته به دسجده سهوی مسئله څنګه معلومیده . سبحان الله دالله ﷻ څومره حکمتونه اوڅومره رحمتونه دی چی محترموته یې دنبوت اورسالت انعام ورکړاوداحکامودوضاحت په مسندیې کښینول دهغوئ سهوه اوهیره یې هم دتشریع داحکامویوه ذریعه جوړه کړه که آدم ﷺ ته سهوه اوهیره نه وای پیښه سوی نودتوبې اواستغفارسنت به له کومه ځایه معلومیدی ،، ربنا ظلمنا انفسنا وان لم تغفرلنا وترحمنا لنکونن من الخاسرین) ددې کلام په ویلوسره ترقیامته پوری دالله ﷻ درضااوخوشالی اودشیطان دذلت اورسوایې لاروښود له سوه قربان دی شم دداسی سهوی هیری څخه چی په هغې سره دتل لپاره درحمتونودروازه خلاصه سوه دعارفینوپه کلام کی راغلی دی چی ابوبکرصدیق ﷺ به داسی ویل (یالیتنی کنت سهومحمد صلی الله علیه وسلم) کاشکی زه له سره ترپښوپوری درسول الله ﷺ سهوه وای) کیدای سی چی ابوبکرصدیق ﷺ دی داګمان کړی وی چی دانبیاء علیهم السلام سهوڅومره دخیر اوبرکت سبب کیږی اوڅومره دالله ﷻ په نزدمقبوله وی په همدی هیله یې ویلی وی (والله سبحانه وتعالی اعلم

دویمه فایده : له دې حدیث څخه دامسئله ثابت سوه چی په کوم ځای کې چی په عبادت کی سستی اوکهالی راسی نوښه داده چی هغه ځای پریږدی اوبل ځای ته ولاړسی په ښکاره خوبل ځای ته تلل دهجرت کبری یوه نمونه ده که ودی ته هجرت صغری وویل سی نوبې ځایه به نه وی کوم ځای چی دالله تعالی عبادت ګران سی اوهلته دګناهوبازار تودسی دغه ځای پریښودل اوداسی ځای غوره کول چی هلته دالله ﷻ طاعت اوبندګی

عبادت کې غفلت راسې هغه ځای پرېښودل اوبل نژدې ځای ته تلل او عبادت آداکول مستحب دي همدی ته موږ په هجرت صغرى سره وویل (واذا بنابک منزل فتحول) کله چې ستا یو ځای خوښ نه سي نو هغه ځای پرېږده او د هجرت حکمونه دفقه په کتابو کې وګوري.

ام حبیبه رضی الله تعالی عنهاهم په همدې کال مدینې منورې ته راغله !

په همدی کال ام حبیبه ﷺ بنت ابی سفیان له حبشه څخه مدینی منوری ته راغله رسول الله ﷺ دنجاشی په واسطه مخکی لا له هغې سره نکاح کړی وه او دهغی دنکاح تفصیلی بیان به ان شاء الله د امهات المؤمنین په بیان کې راسی..

دعمری قضا دهجرت اتم کال د ذی قعدة الحرام یامیانی میاشت !(۱)

دحدیبیه په سوله کې له قریشو سره داپریکړه وسوه چې سږکال به پرته له عمری بیرته مسلمانان ځی او په راتلونکی کال کی به عمری ته راځی دری ورځی به په مکه کې تیروی له درې ورځو وروسته به سمدستی ځی ددې پریکړې برابر رسول کریم ﷺ چې کله دذی القعده میاشت ولیده صحابه کرام ﷺ ته یې حکم وکی چې دهغه عمری لپاره تیاری وکی له کومی چې مشرکینو په حدیبیه کې منع کړی وو اوداحکم یې وکی چې کوم خلک چې په حدیبیه کې برخه درلوده له هغوئ دې څوک نه پاته کیږی صحابه کرام ﷺ ټول تیارسو خاص بیاهغه صحابه کرام ﷺ چې په حدیبیه کې شریک وو پرته له هغه خلکو چې په دې موده کی شهیدان سوی یا وفات سوی وو (طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص/ ۸۷، زرقانی جلد ۲ /ص/ ۲۵۴)

دوه زره صحابه کرامو ﷺ تیاری وکي اوله رسول الله ﷺ سره مکی مکرمی ته روان سو دقربانۍ اوښان ورسره وو کله چې ذوالحلیفة ته ورسیدل نبی کریم ﷺ او صحابه کرام ﷺ په مسجد کې احرام وتړی اولبیک یې وایه روان سو دوئ احتیاطاً له ځان سره وسله هم یووړه مګر دحدیبیه په سوله کې داشرط ایښودل سوی وو چې وسله به له ځان سره نه راوړی ځکه یې وسله په بطن یاجج کې پرېښوده بطن یاجُج له مکی څخه اته میله لیری دی اودوه سوه تنه صحابه کرام ﷺ یې دوسلی دساتنی لپاره پرېښودل رسول الله ﷺ له خپلو خوږو ملګرو ﷺ سره په تلبیه ویلو سره دحرم محترم په لوری روان سو (طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص/ ۸۷)

---

(۱) قال ابن اسحاق خرج النبی ﷺ فی ذی القعدة مثل الشهر الذی صدفیه المشرکون معتمرا عمرة القضاء مکان عمرته التی سدوه عنها وقال الحاکم فی الاکلیل تواترت الاخبار انه صلی الله علیه وسلم لما هل ذوالعقدة امر اصحابه ان یعتمروا قضاء عمرتهم وان لایتخلف احدمنهم شهدالحدیبیة فخرجوا الامن استشهد وخرج معه آخرون معتمرین فکانت عدتهم الفین سوی النساء والصبیان وقال وتسمی ایضا عمرة الصلح. فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۳۸۳)

ژباړه: حاکم په اکلیل کې وایې چې له متواتراحادیثو څخه داثابته ده چې رسول کریم ﷺ چې کله دمیانی میاشت ولیده نو ده دعمری دقضاء راوړلو حکم وکی کومه چې دقریشو دمنع له کبله نه وه سوی او داټینګاریې وکی چې کوم خلک چې په حدیبیه کی شریک وو دوئ دې هیڅوک هم نه پاته کیږی پرته له هغه خلکو چې په دې وخت کې شهیدان سوی وو دوئ ټول له نبی کریم ﷺ دعمری دقضاء راوړلو دپاره روان سو له دوئ پرته څه نور خلک هم دعمری په نیت روان سو چې د دوئ ټول شمیر دوه زره تنه ته رسیدی او ددې عمری ته دسولی عمره هم وایې،، له دې روایاتو معلومیږی ی چې که دڅه عذرله کبله دچاپر ذمه عمره یاحج پاته سی نو په راتلونکی کال کی به دهغه قضاء لازمی راوړی او دامام ابوحنیفه رحمه الله هم همدامذهب دی دتفصیل لپاره دفقه کتابو ته رجوع وکی)

عبدالله بن رواحه ؓ مخکی روان وو درسول الله ﷺ داوښی قصواء مهاریې نیولی وو او داشعرونه یې لوستل

خَلُّوا بَنِي الْكُفَّارِ عَنْ سَبِيلِهِ .... قَدْ أَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ فِي تَنْزِيلِهِ

اې کافرانو درسول الله ﷺ لاره پرېږدی ، الله ﷻ په قرآن کې داسی حکم نازل کړی دی

بِأَنَّ خَيْرَ الْقَتْلِ فِي سَبِيلِهِ .... نَحْنُ قَتَلْنَاكُمْ عَلَى تَأْوِيلِهِ

كَمَا قَتَلْنَاكُمْ عَلَى تَنْزِيلِهِ . (۱) (رواه عبدالرزاق عن انس ؓ)

چې غوره وژل هغه دی چې دالله ﷻ په لاره کې وی موږ له تاسوسره جهادوکي دالله ﷻ دحکم دنه منلوپه وجه لکه چې قرآن دالله ﷻ له خوانازل سوی دی دهغه دنه منلوپه وجه موږ له تاسوسره جهاد کړی دی

او دبیهقی په روایت کې تردی وروسته زیادت هم راغلی دی هغه داسی :

اَلْيَوْمَ نَضْرِبُكُمْ عَلَى تَنْزِيلِهِ .... ضَرْباً يُزِيلُ الْهَامَ مِنْ مَقِيلِهِ

نن دالله ﷻ دحکم مطابق به داسی وهل کوو چې ستاسو کوپړی به له سره بیلی سی

وَيَذْهَلُ الْخَلِيلُ عَنْ خَلِيلِهِ .... يَارَبِّ إِنِّي مُؤْمِنٌ بِقِيلِهِ

داسی چې دوست به له دوسته ناخبره وی . اې الله ﷻ زه دهغه په خبره ایمان او باور لرم .

او دابن اسحق په روایت کې راغلی دی :

يَارَبِّ إِنِّي مُؤْمِنٌ بِقِيلِهِ .... إِنِّي رَأَيْتُ الْحَقَّ فِي قَبُولِهِ

اې الله ﷻ دهغه په خبره ایمان او باور لرم ،، او ماحق دهغه په منلو کې لیدلی دی .

عمرفاروق ؓ وویل اې ابن رواحه ؓ ته درسول الله ﷺ په مخکې او دالله ﷻ په حرم کې شعرونه وایې ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل اې عمره ؓ پرېږده چې وایې یه داشعرد کافرانو لپاره ترغشی ویشتلو هم ډیر سخت دی (رواه الترمذی ، حسن غریب، فتح الباری جلد ۷/ص/۳۸۳)

دابن سعدپه روایت کې راغلی دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل اې عمر ؓ زه یې اورم ، عبدالله ابن رواحه ؓ ته یې حکم وکي چې اې ابن رواحه ؓ داکلمات وایه :

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ نَصَرَ عَبْدَهُ وَأَعَزَّ جُنْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ) عبدالله بن رواحه ؓ به له نورو صحابه کرام ؓ سره یوځای داکلمی لوستی اوروان وو په دې طریقه سره مکی ته داخل سو دبیت الله شریف طواف یې وکی او دصفا او مروه په مینځ کې سعی وکړه وروسته یې قربانی وکړه او حلال سو وروسته یې صحابه کرام ؓ ته وویل چې یوشوتنه بطن یاجج ته ولیږۍ کوم کسان چې پاته دی هغه دې راسی طواف او سعی دې وکړی له دی فرمان وروسته یې کعبة شریف ته یې تشریف یووړی ترماپښین پوری دننه په کعبه کې وو

(۱) دعلی تأویله اوعلی تنزیله داترجمه علامه زرقانی کړی ده یعنی علی انکارتاویله اوعلی انکارتنزیله اوکیدای [illegible] هدالله ﷻ په حکم جهاد کوو ..

سيف لودين کتابتون

بلال ؓ د کعبې شريف پر بام د رسول الله ﷺ په امر د ماپښين اذان وکي (۱)
قريشو که څه هم د معاهدې له مخې رسول الله ﷺ ته د عمرې اجازه ورکړې وه مګر دوئ ډېرې غصې او خفګان اوکين له کبله رسول الله ﷺ او دده ملګرې ؓ نه سو ليدلای ځکه د قريشو مشران او اشراف ټول غرو ته وختل او مکه مکرمه يې پرېښوده (۲)

له ميمونة رضی الله تعالی عنها سره نکاح

د عمرې تر آداکولو وروسته رسول کريم ﷺ درې ورځې په مکه مکرمه کې پاته سو او له ميمونة بنت الحارث ؓ سره يې نکاح وکړه (۳) کله چې درې ورځې پوره سوې د قريشو څو تنه نبي کريم ﷺ ته راغلو چې وخت پوره سوی دی تاسو ولاړ سی ، نبي کريم ﷺ وفرمايل که تاسو لږ وخت راکی نو زه به په مکه کې د ميمونة بنت الحارث ؓ سره دواده دوډۍ وکړم ؟ قريشو په ډېر تريو تندی سره په ځواب کې ورته وويل چې موږ ستا دوډۍ او بلنې ته هيڅ اړتيا نسته ته ولاړ سه ، رسول کريم ﷺ هم سمدستي صحابه کرام ؓ ته امر وکي چې د سفر لپاره ځانونه تيار کي او خپل مريئ ابورافع يې له ميمونة ؓ سره پرېښودی ابورافع هغه له ځان سره صرف نامی ځای ته ورسوله نبي کريم ﷺ هم هلته واده وکی او له هغه ځايه روان سو دلوی اختر په مياشت کې مدينې ته ورسيدی او الله تعالی دا آيت نازل کی ﴿لَقَدْ صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِن شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُؤُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا﴾
(سورة الفتح آيت ۲۷)

د عمرې له قضاء راوړلو وروسته چې کله رسول الله ﷺ د مکې مکرمې څخه روانيدی نو د حمزه ؓ (۴) وړوکې لور و نبي کريم ﷺ ته د کاکا ناری وهلی راغله ، علي ؓ سمدستي هغه راپورته کړه ، د علي ؓ او جعفر ؓ او زيد بن حارثه ؓ په مينځ کې اختلاف سو هر يوه دا غوښتل چې زما په پالنه کې دې پاته سي علي ؓ وويل چې دا انجلۍ زما د اکا لورده او ما راپورته کړې ده ، جعفر ؓ وويل زما د اکا لور ده او بل دد ې خاله زما په نکاح کې ده چې ددې انجلۍ د مور خور ده ، رسول کريم ﷺ دا پرېکړه وکه چې انجلۍ دې له خپلې خاله سره پاته سي او وې فرمايل ، چې خاله د اسې دی لکه مور (رواه البخاری عن البراء بن عازب ؓ)

(۱) طبقات الکبری جلد ۲ /ص /۸۸)
(۲) زرقانی جلد ۲ /ص /۲۵۵)
(۳) د صحيح بخاری په ډېرو ځايو کې له ابن عباس ؓ څخه روايت سوی دی چې رسول الله ﷺ د ميمونه ؓ نکاح د احرام په وخت کی وتړله په صحيح مسلم کې راغلی دی چې رسول الله ﷺ د حلال کيدو وروسته نکاح ورسره وکړه خو د صحيح بخاری روايت تر ټولو صحی دی لکه چې حافظ عسقلانی په فتح الباری کې ويلی دی
(۴)

سیف لودین کتابتون

سریه اخرم بن ابی العوجاء دهجرت اتم کال دلوی اختر میاشت

اخرم ؓ دلوی اخترپه میاشت کې له پنځوس تنوسره بنی سلیم قبیلې ته داسلام دبلنې لپاره ولیږل سو بنی سلیم وویل موږ اسلام ته هیڅ اړتیانه لرواوپرمسلمانانو یې غشي وویشتل دمسلمانانو داوړوکی ټولی ټوله شهیدان سو یوائې اخرم ؓ ژوندی پاته سو ځکه هغه ټپي وو دوئ دشهید ګمان پری وکي اخرمؓ دصفرمیاشتې په لومړی ورځ مدینې منورې ته راورسیدی (۱)

دهجرت اتم کال دصفری په میاشت کي دغالب بن عبدالله لیثی رضی الله تعالی عنه سریه

دهجرت اتم کال دصفری میاشت وه رسول کریمﷺ غالب بن عبدالله لیثیؓ دکدید په نامه ځای ته ولیږی چی په بنی الملوح باندئ بریدوکي له ده سره یوه دله نورصحابه کرامؓ هم وو دوئ چی کله هلته ورسیدل شپه وه دشپې یې بریدوکي دهغه قبیلې اوښان یې ونیول مدینې منورې ته را روان سو دبنی الملوح یو لوی لښکرپه دوئ پسې له شاراووتی کله چی دوئ ته رانژدې سو نودالله ﷻ په مهربانی سره داسی تیزباران سو چی دمسلمانانواوکافرانوپه مینځ کې یوه لویه کنده وه هغه له اوبوډکه سوه اودوئ مسلمانانوته راونه رسیدل اوبویې مخه ونیوه مسلمانان روغ رمټ مدینې منورې ته راورسیدل ..

یوشمیرکوچنی سریه دخیبردغزا اوموته دغزاپه مینځ کې نبی کریمﷺ لیږلی دی دالله ﷻ په فضل سره ټول بریالی بیرته راستانه سوی دی (۱)

دخالدبن ولیدؓ اوعثمان بن طلحهؓ اوعمروبن العاصؓ اسلام راوړل دهجرت ۸ کال

په همدی موده کې داسلام مشهورتکړه اوپیاوړی سپه سالار خالدبن ولید رضی الله تعالی عنه اودعربو مشهور هوښیار عاقل مدبر عمروبن العاصؓ په اسلام مشرف سو ددوئ داسلام راوړلوپه وخت کې اختلاف دی یوشمیرخلک وایې چی دهجرت اتم ۸ کال دصفری په میاشت کی وو اویوشمیرنوربیاوایې چی دخیبرله فتح وروسته دهجرت په اووم ۷ کال کی یې اسلام راوړی دی .

داخبره په صحیح اوصریح روایاتوسره ثابته ده چی دحدیبیه دغزاپه وخت کې خالدبن ولیدؓ دقریشوپه فوځ کې یوپیاوړی قمندان او دبخاری له روایت څخه معلومیږی چی خالدبن ولیدؓ دموته په غزاکی وو اوپه پای کې دئ دلښکرامیرسو اودده په لاس باندی الله تعالی مسلمانانوته بری ورکړ له دی معلومه سوه چی دحدیبیه ترسوله وروسته اودموته ترغزامخکی مسلمان سوی دی ..

خالدبن ولیدؓ وایې الله تعالی چی کله ماته دخیراراده وکړه نوزماپه زړه کې داسلام مینه ولویده ناڅاپه می په زړه کی دافکرپیداسو چی زه چی په کومه جګړه کې

سیف لودین کتابتون

دقريشوله لوري درسول الله ﷺ مقابلې ته وزم کله چې بيرته راسم نوزمادزړه کيفيت داسې بدل وي زړه راته وايي چې ستاداټولې هڅې اوکوششونه بې معنى اوبې ګټې دي اومحمد ﷺ به هرومرو غالب کيږي اوبيا دحديبيه په وخت کې زه دمکې دقريشوله لورې دسپرودټولې مشروم مافکروکې چې کله مسلمانان پرلمانځه ودريږي نوبايد موږپردوی بريدوکوو مسلمانانو دعفان په نامه ځای کې لمونځ کوی کله موږهغه ځای ته ورسيدو دمسلمانانو دلمانځه وخت وو موږ دبريد نيت کړی وو خو موږناکامه سو ځکه رسول الله ﷺ مسلمانانو ته صلوة الخوف ورکوی په دغه وخت کې زه پوه سوم چې ودې سړی ته الله ﷻ خبرورکړی دی اودئ دالله ﷻ له لوری ساتل کيږي اوغيبي دده ساتنه کيږي زه ناکام بيرته راستون سوم رسول کريم ﷺ چې کله له قريشوسره سوله وکړه اوبيرته ولاړی نوزماپه زړه کې دافکرراغلی چې دقريشو قوت اودبدبه نوره ختمه سوه ځکه دحبشه پاچانجاشي هم مسلمان سو اودرسول الله ﷺ ملګرو ؓ ته يې هم پناه ورکړه دوئ هلته بنه په امن کې اوسيږي اوس بله لارنسته زه بايد ولاړسم دروم پاچاهرقل ته هلته يايهودی سم يانصرانی سم اودعجموتابع سم اوترلاس لاندی سم اوپه پيغورسره خپل ژوندتيرکړم يوڅوورځي په خپل وطن کې ددې لپاره پاته سوم چې کيدای سی دغيب له لوری ماته څه معلومات وسی زه په همدې فکرواوسوچ کې وم چې رسول کريم ﷺ دتيرکال دعمری دقضاء راوړلولپاره مکې مکرمې ته راغلی په همدی وخت کې زه له مکې ووتلم اوپټ سوم، رسول کريم ﷺ چې کله له عمرې خلاص سو نوزماورور وليدبن وليد ؓ چې دنبي کريم ﷺ ملګری وو هغه په ماپسې ګرزيدلی ووخوزه يې پيدانه کړم ورروسته زماورور زماپه نامه يوليک ليکلی وو هغه يې راوليږی دهغه ليک مضمون داسې وو :

بسم الله الرحمن الرحيم . امابعدفاني لم ارا عجب من ذهاب رايک عن الاسلام وعقلک عقلک ومثل الاسلام جهله احدوقد سألني رسول الله صلى الله عليه وسلم عنک وقال اين خالد فقلت ياتي الله به فقال مثله جهل الاسلام ولوکان جعل نکايته وجده مع المسلمين کان خيرا له ولقدمناه على غيره فاستدرک ياأخي مافاتک من مواطن صالحة)

ژباړه : پيل کوم په نامه دالله ﷻ چې ډيرمهربان اوبښونکی دی ، ورروسته ماترد‌ې کار نادراوعجيب نه دی ليدلی چې ستالاره داسلام په څيرپاک دين له قبلولو کړه ده سره له دی چې ستاعقل خوستاعقل دی کوم چې مشهور اوهرچاته معلوم دی اوداسلام په څيرله دين ناخبری ډير دتعجب خبره ده اورسول الله ﷺ لماځخه ستاپه اړه پوښتنه وکړه چې خالدچيری دی ماورته وويل چې يارسول الله ﷺ ژرده چې الله تعالی به هغه راولي نبي کريم ﷺ وفرمايل چې ډيردتعجب ځای دی چې دده په څيرهوښيار داسلام په څيرپاک دين ناخبره

سیف لودین کتابتون

وی اووې فرمایل چې که خالد د مسلمانانو په ملګرتیاکې دحق دین مرسته کولای او دباطل مقابله یې کولای نو دابه دده لپاره ډیر غوره وو اوموږ به هغه پرنوروباندې مخکې کولای نواې وروره له تا څخه چې کوم غوره ځایونه تیر سوی دی هغه راوګرزوه اوس دراګرزیدو وخت دی . . ولیدبن ولیدؓ دلیک پای)

خالدبن ولیدؓ وایې چې زمادورور لیک چې کله راورسیدی نودې لیک زمامینه له اسلام سره نوره هم زیاته کړه اودهجرت دسفر یو خوشالي مې په زړه کې پیدا سوه اورسول کریمﷺ چې زما په اړه څه فرمایلي وو هغه ډیر خوشاله کړم اوپه دې وخت کې مې یو خوب ولیدی هغه داسې چې زه په یوه تنګ ښارکې یم په هغه ښارکې وچکالي ده زه له دې وچې اوتنګې سیمې څخه یوه شنه اوآباد اوپراخ ښارته ولاړم ماپه خپل زړه کې وویل چې دایوځانګړی خوب دی اوزمادپامړنې لپاره دی زه هم سمدستي مکې مکرمې ته راغلم اودسفرسامان مې تیارکی اودمدینې په لوری مې دتلونیت وکی دامې غوښتل چې بل څوک هم له ماسره ملګری سي راغلم صفوان بن امیه ته مې وویل چې زه یوه خبره درته کوم که دې خوښه وي هغه دا چې ته نه وینې چې محمدﷺ په عرب اوعجمو باندې برلاسی سو که موږ محمدﷺ ته ورسو اودهغه پیروي وکړو نودابه زموږ لپاره غوره وي د محمدﷺ عزت زموږ عزت دی ؟ صفوان بن امیه په ډیره سختۍ سره داخبره رد کړه اووې ویل چې که دځمکې پرمخ بل څوک پاته نه سي یوازې زه یم نورټول خلک دده تابع سي نو بیابه هم دده پیروي ونه کړم ، ماپه خپل زړه کې وویل چې دده پلار او ورور په بدرکې وژل سوي دی ځکه له ده څخه امیدنه سي کیدای له هغه ځایه راغلم عکرمه بن ابي جهل ته مې هغه خبره وکړه کومه چې صفوان ته مې کړې وه هغه هم همداسې ځواب راکی لکه صفوان چې راکړی وو ، وروسته زه راغلم خپل کورته اوښه مې تیاره کړه په فکرکې مې راغلو چې راسره عثمان بن طلحه ته داخبره یاده کړه هغه زمار ښتینی دوست وو مګر ماته دهغه دپلاراونیکه وژل رایادسو اوپه دې کې شکې سوم چې هغه به داخبره راسره ومنې وروسته مې داپریکړه وکړه چې په ویلو کې زماڅه زیان دی زه خواوس هسې هم ځم روان یم راغلم عثمان بن طلحه ته مې خبره یاده که کومه چې ماصفوان اوعکرمه ته کړې وه ، عثمان بن طلحه زماخبره ومنله وې ویل چې زه هم مدینې ته ځم دیاجج په نامه ځای کې به سره یوځای کیږو که ته ترمامخکې ورسیدې نوزماانتظاروکړه اوکه زه ترتامخکې ورسیدم نوزه به ستاانتظارکوم خالدؓ وایې چې زه هم دژمنې برابر یاجج ته ورسیدم عثمان زماپه انتظارولاړ وو سهارموږ دواړه له هغه ځایه روان سو کله چې موږ هدّه په نامه ځای ته ورسیدو نودعمروبن العاص سره مو ولیدل هغه چې کله موږ ولیدو نو هر کله راشه

سیف لودین کتابتون

په اسلام کې دداخلیدو او د محمد صلی الله علیه وسلم د پیروۍ په نیت روان یم مدینې منورې طیبې ته روان یم ، موږ ورته وویل چې موږ هم په همدې اراده راوتلي یو .. خالد ﷺ وایې چې موږ دریږ سره ملګري سو او مدینې منورې ته ورسیدو د سپرلۍ اوښان مو د حره په نامه ځای کې ودرول یو چا موږ خبر نبي کریم ﷺ ته ورسوی هغه زموږ د راتلو په خبر ډیر خوشاله سو او وې فرمایل چې مکې د خپل ځګر ټوټې را ایستلی دي خالد ﷺ وایې چې ما ډیرې غوره جامې اغوستې وې د نبي کریم ﷺ و خواته روان وم په لاره کې زما ورور ولید بن ولید ﷺ هم راسره ولیدل هغه راته وویل چې په تلوراځې رسول الله ﷺ ستاسو په راتګ خبر سوی دي او ستاسو په راتګ ډیر خوشاله دې او تاسو ته سترګې په لاره دی ، موږ په تلوار ولاړو د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو رسول کریم ﷺ چې کله زه ولیدم مُسکی سو ما وویل االسلام علیک یارسول الله ﷺ ده په روڼ تندی سره زما د سلام ځواب راکی ما وویل (اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله) . نبي کریم ﷺ وفرمایل رانژدې سه کله چې زه ورنژدې سوم رسول الله ﷺ داسې وفرمایل (الحمدلله الذی هداک قد کنت اری لک عقلا رجوت ان لایسلمک الا الی خیر) ژباړه : ټول صفتونه هغه پاک ذات لره دي چې تاته یې د اسلام توفیق درکی زما دا فکر وو چې ستا عقل او پوهه به ستا لاربښودنه د خیر او نیکۍ خواته کوی .. خالد ﷺ وایې ما غوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ ته په دې خبرې چې د جنګ جګړو په ځایو کې زه د حق د مقابلې د پاره حاضریدم او زه په دې باندې ډیر شرمنده او پښیمانه یم ځکه له تاڅخه داغوښتنه کوم چې ته زما د پاره دعاء وکړه چې الله تعالی زما هغه ټولې خطاګانې راوبښي ؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل (الاسلام یمحو ماکان قبله) اسلام هغه ټول کارونه ختموي چې مخکې سوي دي ،، دویم ځل بیا ما د دعا غوښتنه وکړه ، نبي کریم ﷺ زما د پاره دا دعاء وکړه : (اللهم اغفر لخالد بن الولید ما اوضع فیه من صد عن سبیل الله) اې الله ﷻ ته خالد بن ولید ﷺ ته د هغه ټولې خطاوې وبښې کومې چې خالد ﷺ د الله ﷻ د دین د مخنیوي لپاره کړې دي .. خالد ﷺ وایې چې تر ما وروسته عثمان بن طلحه ﷺ او عمرو بن العاص ﷺ را مخته سو او له رسول الله ﷺ سره یې بیعت وکې (۱)

عمرو بن العاص ﷺ وایې کله چې موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو نو لومړی خو خالد ﷺ بیعت وکی وروسته عثمان بن طلحه ﷺ بیعت وکی وروسته بیا زه د بیعت لپاره ورمخکې سوم خو په دغه وخت کې زما حالت داسې وو (فوالله ماهو الا ان جلست بین یدیه فما استطعت ان ارفع طرفی حیاء منه قال فبایعته علی ان یغفر لی ماتقدم من ذنبی ولم یحضرنی ماتأخر فقال ان الاسلام یمحو ماکان قبله والهجرة تجب ماکان قبلها) ژباړه : قسم په الله ﷻ کله چې زه د رسول الله

(۱) البدایه والنهایه جلد ۴/ص/ ۲۳۸، ۲۴۰، وخصائص کبری جلد ۱/ص/ ۲۴۸)

سیف لودین کتابتون

ﷺ مخ ته کښېنستم دشرم اوپښېماتتیاله کبله مارسول الله ﷺ ته پورته نه سو کتلای عمرو رضی الله عنه وایې آخرماد ده مبارک په لاس باندی بیعت وکی اوغوښتنه می وکړه چی په دې شرط بیعت کوم چی زما ټول تیرسوی ګناهونه به ښښل کیږی عمرو رضی الله عنه وایې چی په دې وخت کې می داله ذهن څخه ووتل چی داسی ووایم چی زمارا تلونکی ګناهونه به هم ښښل کیږی ؟ وروسته نبی کریم ﷺ وفرمایل چی اسلام هغه ټول ګناهونه ختموی کوم چی تراسلام مخکی دکفرپه حالت کی سوی دی اوبل داچی هجرت هم ټول تیرسوی ګناهونه ختموی ،،،عمروبن العاص رضی الله عنه وایې قسم په رب لایزال باندی له کومی ورځی چی موږ مسلمانان سو له هغه وروسته چی کوم مهم کارپېښ سوی دی رسول الله ﷺ زموږپه باره کې هیچاته نه دی ویلی ، عمروبن العاص رضی الله عنه وایې چی زه اوخالد رضی الله عنه اوعثمان رضی الله عنه دهجرت په اتم کال دصفرپه میاشت کې دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوپه اسلام مشرف سو (البدایه والنهایه جلد ۴ /ص/ ۲۳۸)

دموته غزا ، دهجرت اتم کال ددریمی خور میاشت

موته دشام په هیوادکی دیوځای نوم دی دبلقاء په سیمه کې پروت دی رسول کریم ﷺ چی کله پاچهانو او امیرانو ته داسلام بلن لیکونه ولیږل نوشرحبیل بن عمروغسانی ته یې هم یولیک ولیږی شرحبیل دروم دپاچاهرقل له طرفه دشام امیروو ، حارث بن عمیر رضی الله عنه دته دالیک ورسوی کله چی حارث بن عمیر رضی الله عنه شام ته ورسیدی نوشرحبیل خبیث هغه شهیدکی ځکه رسول الله ﷺ دري زره لښکرتیارکي دهجرت اتم کال دجمادی الاولی میاشت کې یې موته ته ولیږل (۱) زیدبن حارثه رضی الله عنه یې دلښکرمشر وټاکی اولښکرته یې وفرمایل که زید رضی الله عنه شهیدسو نوستاسومشربه جعفربن ابی طالب رضی الله عنه وی که هغه هم شهیدسو نوبیاستاسومشرعبدالله بن رواحه رضی الله عنه دی اوکه عبدالله بن رواحه رضی الله عنه هم شهیدسو نومسلمانان چی څوک غواړی هغه دی خپل مشرکی (رواه البخاری واحمد والنسائی بسند صحیح)

په دې غزاکی امیران ډیر وو ځکه ودې غزاته غزوه جیش الامراء هم وایې لکه چی دمسنداحمداونسائی په صحیح سندسره له ابوقتاده رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چی رسول الله ﷺ جیش الامراء لښکروليږی الی اخرالحدیث (۲)

سپین بیرغ یې زیدبن حارثه رضی الله عنه ته ورکي او ورته وې فرمایل چی لومړی هغه ځای ته ولاړسه چیری چی حارث بن عمیر رضی الله عنه شهیدسوی دی اوهغه خلکوته داسلام بلنه ورکړه که هغوئ دابلنه ومنله خوښه ده اوکه داسی نه وو نودالله جل جلاله څخه مرسته وغواړه اوله دوئ سره جهادوکړه ، ترثنیة الوداع پوری رسول الله ﷺ په خپله هم دلښکردرخصتولوپاره ورسره ولاړی په ثنیة الوداع کې ډیروخت پاته سو اولښکرته یې داوصیت وکی چی په

(۱) فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۳۹۲، طبقات الکبری جلد ۲ /ص/ ۹۲)

سیف لودین کتابتون

هرحال کې دپرهیزګارۍ خیال ساتي دخپلو ملګرو دخیرغوښتنه کوي دالله تعالی په لاره کې دالله ﷻ په نوم دالله ﷻ له کافرانو سره جهاد وکړئ دوکه ، اوخیانت مه کوي ماشومان اوښځې اوسپین ږیري مه وژنۍ ، کله چې لښکررخصت سو نوعبدالله بن رواحه ﷛ وژړل صحابه کرامو ﷛ پوښتنه وکړه چې اې ابن رواحه ﷛ ولې دې وژړل ؟ عبدالله بن رواحه ﷛ په ځواب کې ورته وویل (اما والله مابي حب الدنیا ولاصبابة بکم ولکني سمعت رسول الله ﷺ یقرأ آیة من کتاب الله عزوجل ﴿وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا﴾ (۷۱آیت سورة مریم) فلست ادري کیف بي الصدر بعدالورود) ژباړه : پوه سئ قسم په الله ﷻ که زما له دنیاسره هیڅ مینه وي اوند تاسوته څه میلان مګرماله رسول الله ﷺ څخه داآیت اوریدلی دی چې فرمایل یې هیڅوک په تاسوکې نسته مګرهغه به خامخاپر دوزخ تیریږي اودالله ﷻ په نزد داپریکړه سوې ده نو نه ده معلومه چې پردوزخ باندې تیریدل به څنګه وي ، ځکه ژاړم.

لښکرچې کله روان سو مسلمانانو په زوره وویل الله تعالی دې تاسوروغ جوړاوبریالی بیرته راولي خوعبدالله بن رواحه ﷛ داشعرولوستی

(لَكِنَّنِيْ أَسْأَلُ الرَّحْمَنَ مَغْفِرَةً .... وَضَرْبَةً ذَاتَ فَرْعٍ تَقْذِفُ الزَّبَدَا)

زه بیرته راتګ نه غواړم بلکې دالله ﷻ ښښنه اودهغه په لارکې دداسې ژورزخم غوښتونکی یم چې ځګونه غورزوي

أَوْ طَعْنَةً بِيَدَيْ حَرَّانَ مُجْهِزَةً .... بِحَرْبَةٍ تُنْفِذُ الاحْشَاءَ الْكَبَدُ

یاداسې مضبوط ګذاروی چې تیزوي اوپه داسې تیزې سره پرماولګیږي چې زماترکولمواوځګرتیرسي

حَتَّى يُقَالُ إِذَا مَرُّوا عَلَى جَسَدِيْ .... يَاأَرْشَدَاللهُ مِنْ غَازٍ وَقَدْرَشَدَا

تردې چې خلک کله زماپه قبرتیریږي نوداووایې چې واه واه څومره ښه غازي وو اوڅنګه کامیاب سو ...... د لښکردروانیدوپه حالت کې عبدالله بن رواحه ﷛ درسول الله ﷺ خواته رانژدې سو اوداشعریې ولوستی :

أَنْتَ الرَّسُوْلُ فَمَنْ يُحْرَمُ نَوَافِلَهُ .... وَالْوَجْهُ مِنْهُ فَقَدْ أَزْرَىٰ بِهِ الْقَدَرِ

ته بیشکه دالله ﷻ رسول ﷺ یې کوم څوک چې ستاله فیوضاتواوبرکاتوڅخه اوستادمخ مبارک له لیدلوبې برخې سو نوپوه سو چې قضااوتقدیردهغه سپکاوی وکړچې دداسې لوی بخت څخه بې برخې سو ..

فَثَبَّتَ اللهُ مَاآتَاكَ مِنْ حُسْنٍ .... تَثْبِيْتَ موسى ونصراً كَالَّذِيْ نُصِرُوا

الله تعالی دې دموسی ﷷ په څیرستامحاسن هم ثابت اوو ساتي اومخکنوانبیاء علیهم السلام په څیردې ستامرسته وکړي

انى تَفَرَّسْتُ فِيْكَ الْخَيْرَ نَافِلَةً .... فِرَاسَةً خَالَفَتْ فِيْكَ الَّذِى نَظَرُوا

ماپه تاکې دخیراونیکۍ ډیر زیات احساس کړی دی اوزماداحساس دمشرکینودلیدلواواحساس خلاف دی .

نبی کریم ﷺ وفرمایل (وانت فثبتک الله یاابن رواحه) اواې درواحه زویه الله ﷺ دې تاهم ثابت

سیف لودین کتابتون

له بل لوري شرحبیل دلښکرپه روانیدوخبرسوی وو سمدستي یې ترسل زره زیات لښکرراغونډکي اودمسلمانانودمقابلې لپاره یې جمع کې اوله یولک فوځ سره راووتی اوهرقل دشرحبیل دمرستي لپاره هم سل زره لښکربلقاء ته راورسیدی دمسلمانانولښکرد معان په نامه ځای ته ورسیدی دوئ خبرسو چې تردوه سوه زره زیات لښکر زموږددرې زره مسلمانانودمقابلې لپاره راوتلی دی اوپه بلقاء کې یې پړاواچولی دی مسلمانانودوې شپې په معان کې تیري کړی اومشوره یې وکړه چې څه بایدوکړو ټولو داخوښه کړه چې رسول الله ﷺ ته باید خبرورکړو اودهغه دحکم اومرستي انتظاروکړو خوعبدالله بن رواحه رضی الله عنه وویل (یاقوم والله أن التی تکرهون للتی خرجتم ایاها تطلبون الشهادة ومانقاتل الناس بعدد ولاقوة ولاکثرة مانقاتلهم الابهذاالدین الذی اکرمنا الله به) ژباړه: ای خلکو قسم په الله جل جلاله له کوم شئ چې تاسوویریږی هغه شهادت اوتاسودهغه په پیداکولوپسي راوتلی یاست موږ خوله کافرانوسره دډیر والی اوزورپه وجه نه یو جنګیدلی زموږ جنګ خویواځې ددین اسلام په وجه ده په کوم سره چې الله تعالی موږ ته عزت راکړی دی نودرځئ اوولاړسي او وروسته یې داسي وویل (فانطلقوا فانما هی احدالحسنیین اماظهور واماشهادة) له دوو ښیګڼوبه یوه خامخا په لاس درځي یاشهادت اویاپرکافرانوبری، صحابه کرام رضی الله عنهم وویل قسم په الله جل جلاله ابن رواحه رضی الله عنه ییخي رښتیاوویل اودالله تعالی دخاصوبندګانواوځان قربانونکودرې زره لښکرد الله جل جلاله ددښمنانوله دوه لکه لښکرسره دجنګ لپاره موته ته روان سوکله چې دوئ موته ورسیدل هلته یې پړاوواچوی مخامخ درومیانولښکرپروت دی، دموته په ډګرکې دواړه ډلې میدان ته راووتلې زیدبن حارثه رضی الله عنه داسلام بیرغ په لاس کې دی اومیدان ته رامخکي سو له مخامخ دکافرانولښکردی زید رضی الله عنه وجنګیدی ترڅوشهیدسو ترده وروسته جعفر رضی الله عنه بیرغ پورته کې اورامخ ته سو دښمنان له هرلوري پرده راتوی سول کله چې دښمنانودده آس زخمي کی دئ هم سمدستي له آس راښکته سو اودآس پښې پریکړې اوخپله سینه یې ډال کړه دالله جل جلاله له دښمنانوسره جنګیدی اوداشعرونه یې ویل:

یَاحَبَّذَا الجنةُ واقْتِرابُهَا............. طَیِّبَةٌ وَبَارِدٌ شَرَابُهَا

دجنت اودهغه نژدې والی څومره پاک اوخوندوردی اواوبه یې ډیریخي اوخوږی دی

والرُّومُ رومٌ قددَنَا عَذابُهَا............. کافرةٌ بعیدةٌ انسابُهَا

اودرومیانوعذاب رانژدې سوی دی کافران ذی اودهغوئ نسب له موږ څخه ډیر لیري دی یعنی زموږاودوئ ترمینځ هیڅ خپلوی نسته.

عَلَیَّ اِذْ لاَ قِیْتُهَا ضِرَابُهَا: دجنګ په وخت کې ددوئ وهل پرمافرض اولازم دی..

جعفر رضی الله عنه وجنګیدی په جنګیدلو کې یې یولاس پرې سو سمدستي یې داسلام بیرغ په چپه لاس ونیوی کله چې یې چپه لاس هم پرې سو نوبیرغ یې په سینه پوري جوخت ونیوی ترهغوپوري یې نیولی ووترڅوشهیدسو، الله تعالی ددواړو لاسوپه بدله کې دوه وزرونه ورکړل اوپه جنت کې له ملائکه وو سره ګرزي.

سیف لودین کتابتون

په صحيح بخاری کې له عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چې کله د جعفر رضی الله عنه بدن وکتل سو نو ترنيوی زيات د غشو او تورو ټپونه پروو او ټول ټپونه يې مخامخ وو د شاله لوری يې هيڅ ټپ نه وو له جعفر رضی الله عنه وروسته عبدالله بن رواحه رضی الله عنه بيرغ پورته کی او ميدان ته راووتی پر آس سپوروو د څه وخت لپاره دده نفس ته څه تردد اوشک ولويدی خودئ خپل نفس ته مخاطب سو او ځان ته يې وويل:

اَقْسَمْتُ يَانَفْسُ لَتَنْزِلَنَّهُ .... كَارِهَةً او لَتُطَاوِعَنَّهُ

اې نفس ما قسم کړی دی چې ته به خامخاله آس راکښته کيږې د الله ﷻ له دښمنانو سره به جنګيږې که ستاخوښه وی او که نه (كذافى فتح البارى جلد ٧/ص/٣٩٣)

اِنْ اَجْلَبَ النَّاسُ وَشَدُّوا الرَّنَّهُ .... مَالِي اَرَاكَ تَكْرَهِيْنَ الْجَنَّةَ

که خلک ناری وهی او اوازونه کوی نو څه وجه ده چې زه تا ته ګورم ته جنت نه خوښوی يعنی په تلوار ګام نه پورته کوی او له مخکی کيدو شاته کيږې ګواکی ته جنت نه خوښوی ،، دا يوائی د خپل نفس د ترټنی او ملامتيا لپاره وايي

قَدْ طَالمَا قَدْ كُنْتِ مُطْمَئِنَّهُ .... هَلْ اَنْتَ الا نُطْفَةٌ فِي شَنَّهُ

ته ډير څله آرام يې په دې وخت کې په تاڅه سوی دی ستا حقيقت څه دی ته خو دمور په رحم کی يوه نطفه وی د دې بی حقيقت نطفی دپاره د الله ﷻ په لاره کې شاته کيږې.

يَانَفْسُ اِلاَّ تَقْتُلِي تَمُوْتِي .... هَذَا حِمَامُ الموتِ قَدْ صَلَيْتِ

اې نفس که ته اوس ونه وژل سی نو خامخا به يوه ورځ مری او په مرګ ستا اخته کيدل لازمی دی

وَمَا تُمَنَّيْتُ فَقَدْ اُعْطِيتِ .... اِنْ تَفْعَلِي فِعْلَهُمَا هُدِيْتَ

د کوم شی غوښتنه چې تاکړی وه هغه درته ورسيدی يعنی د شهادت د الله ﷻ په لار کی که تا د زيد رضی الله عنه او جعفر رضی الله عنه په څير کار وکی نو سمه لار به پيدا کې ..

دا شعرونه يې وويل او له آس راښکته سو دده د اکازوی راغلی او د غوښی يوهډوکی يې ورکي چې دا وخوره ددی لپاره چې يو څه قوت په پيدا کی او په ښه زور سره وجنګيږې پر تا ډير ورځې دلوږې تيری سوی دی ابن رواحه رضی الله عنه هډوکی را واخيستی هغه يې يو ځل وشکوی سمدستی يې وغورزوی او وې ويل اې نفس خلک جهاد کوی او ته په دنيا اخته يې توره يې راواخيستله او ورمخکی سو تر څو شهيد سو او د اسلام بيرغ يې له لاسه ولويدی ثابت بن احزم رضی الله عنه سمدستی د اسلام بيرغ پورته کی او مسلمانانو ته يې وويل اې مسلمانانو دلښکر امير معلوم کی دوئ ټولو وويل ته زموږ آميريې موږ ټول ستا په امارت راضی يو ثابت رضی الله عنه وويل نه زه دا کار نه سم کولای دا خبره يې وکړه او بيرغ يې خالدبن وليد رضی الله عنه ته ورکي او وې ويل چې ته ښه جنګيالی يې خالد رضی الله عنه د امارت په منلو کې يو څه فکر وکي مګر ټولو مسلمانو د هغه په امارت باندی اتفاق وکی ، خالدبن وليد رضی الله عنه بيرغ واخيستی او ميدان ته راووتی په ډيره ميړانه يې د الله ﷻ له دښمنانو سره مقابله وکړه پر کافرانو يې بريدونه وکړل او صفونه يې څيری کړه ، په صحيح بخاری کې له خالدبن

سیف لودین کتابتون

ولیدؓ څخه روایت سوی دی وایې چې دموته په غزاکی زما په لاس کې نه ۹ توری ماتی سوی یوائی یوه یمنی توره زما په لاس کې پاته سوه
داورځ په جنګ تیره سوه دویمه ورځ خالدبن ولیدؓ دلښکرهیئت بدل کی دمخکې مجاهدین یې شاته کړه اودشامجاهدین یې ورمخ ته کړه راسته طرف یې چپه طرف ته اوچپه طرف یې راسته طرف کی، رومیانو چې کله دلښکرهیئت بدل ولیدی وویریدل دافکریې وکی چې مسلمانانوته مرسته رارسیدلی ده، ابن سعدله ابوعامرؓ څخه روایت کوی چې کله خالدبن ولیدؓ په رومیانوبریدوکی نودوئ ته یې داسی غوڅه ماته ورکړه چې ماداسی ماته هیڅکله نه ده لیدلی مسلمانانوچې کوم ځای غوښتل هلته به یې دتوری وارکوي دزهری اوعروة بن زبیراوموسی بن عقبه اوعطاف بن خالداوابن عائذ څخه هم همداسی روایت سوی دی، اوپه صحیح بخاری کې راغلی دی چې حتی فتح الله علیهم ، تردی چې الله تعالی مسلمانانوته فتح اوبری ورنصیب کی،، دحاکم په روایت کې راغلی دی چې په غنیمت کې څه سامان هم له رومیانوڅخه مسلمانانوته لاس ته راغلی سو دغه رومیانوله ماتی وروسته خالدبن ولیدؓ شاته تګ مناسب وګڼی اوخپل وړوکي ټولګی یې له ځان سره شاته کې په ورو ورو مسلمانان راشاته سو ترڅوله رومیانو ښه رالیری سو ورپسی راغلومدینی منوری ته بریالی راورسیدل
په دې غزاکی دوولس مسلمانان شهیدان سوچې ددوئ نمونه په لاندی ډول دی :
(۱) زیدبن حارثهؓ (۲) جعفربن ابی طالبؓ (۳) عبدالله بن رواحهؓ (۴) مسعودبن اوسؓ (۵) وهب بن سعدؓ (٦) عبادبن قیسؓ (۷) حارث بن نعمانؓ (۸) سراقه بن عمرؓ (۹) ابوکلیب بن عمروبن زیدؓ (۱۰) جابربن عمروبن زیدؓ (۱۱) عمروبن سعدبن حارثؓ (۱۲) عامربن سعدبن حارثؓ) داټول تفصیل له زرقانی اوفتح الباری باب غزوة موته څخه رااخیستل سوی دی
په کومه ورځ اوپه کوم وخت چې دموته په میدان کې داسلام غازیان شهیدانیدل نوالله ﷻ دشام ځمکه په خپل قدرت کامله سره درسول اللهﷺ سترګوته مخامخ که اودجنګ میدان نبی کریمﷺ په خپله لیدی دنبی کریمﷺ اودشام په مینځ کې ټولی پردی پورته سوی، رسول اللهﷺ وفرمایل چې ټول صحابه کرامؓ دی راسی د(الصلاة جامعة) غږ وسو صحابه کرامؓ رایوځای سو نبی کریمﷺ په منبرشریف باندی کښینستی دجګړی ډګرد نبی کریمﷺ سترګوته مخامخ وو رسول اللهﷺ صحابه کرامو ؓ ته دجنګ حال داسی بیانوی، زیدؓ داسلام بیرغ په خپل لاس کې واخیستی اوله کافرانوسره ښه وجنګیدی شهیدسو اوجنت ته داخل سو ترزیدؓ وروسته جعفرؓ داسلام بیرغ پورته کی هغه دی دالله ﷻ له دښمنانوسره ښه وجنګیدی ترڅو چې شهیدسو اوجنت ته داخل سو دوه وزرونه لری اوله ملائکوسره په جنت کې ګرزی. اوس عبدالله بن رواحهؓ داسلام بیرغ پورته کی رسول اللهﷺ چې داوویل لږ وخت دپاره یې څه ونه ویل، انصاروؓ دافکر وکی چې کیدای سی له عبدالله بن رواحهؓ څخه څه ناوړه کارسوی وی ویریدل اوپرمخونو مبارکانویې

دخفګان نښې ښکاره سوې نبي کریم ﷺ ترلږ څنډ وروسته وفرمایل چې عبدالله بن رواحه رضی الله عنه هم له کافرانوسره ښه جهادوکې او شهیدسو اودادرې سره جنت ته داخل سو اوپه ښائسته تخت باندې آرام کوې ماڅکه دڅه وخت لپاره څه ونه ویل ځکه مادعبدالله بن رواحه رضی الله عنه تخت ولیدی چې ښوریدی نومانوپوښتنه وکړه چې ددې څه وجه ده چې دعبدالله بن رواحه رضی الله عنه تخت ښوری ماته وویل سو چې عبدالله بن رواحه رضی الله عنه ته دجګړې په وخت کې لږشک پیښ سو اولږشاومخ ته سو اوزید رضی الله عنه اوجعفر رضی الله عنه پرته له څه شک اوتردد وړاندې سو اومخ ته ولاړل اوپه یوه بل روایت کې داسې راغلې دی

(ثم اخذالرأیة عبدالله بن رواحه فاستشهد ثم دخل الجنة معترضا فشق ذلک علی الانصار فقیل یارسول الله ﷺ ما اعتراضه قال لما اصابته الجرح فتشجع فاستشهد فدخل الجنة فسری عن قومه . اخرج البیهقی کذافی البدایه والنهایه جلد۴/ص/۲۴۷و خصائص کبری صفحه ۲٦۰)

ژباړه: نبي کریم ﷺ وفرمایل بیاعبدالله بن رواحه رضی الله عنه بیرغ پورته کی اوشهیدسو بیاهغه جنت ته څه بندبند کیدی خوداخل سو انصارو رضی الله عنهم چې داخبره واوریده غمجن سو چاپوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ ددې څه وجه ده نبي کریم ﷺ وفرمایل کله چې عبدالله بن رواحه رضی الله عنه دجنګ په میدان کې زخمي شو نوهغه دبشریت په تقاضادڅه وخت لپاره سست سو اوشاومخ ته سو بیاېې خپل نفس ملامت کی اوله همت اومیړانې یې کارواخیستی اووجنګیدی ترڅوشهیدسو اوجنت ته داخل سو انصارو رضی الله عنهم چې کله واوریدل چې جنت ته داخل سو نوټول خفګان اوغم یې لیرې سو (البدایه والنهایه)

رسول الله ﷺ داحالت بیانوې اوترسترګویې اوښکې روانې وې بیایې وفرمایل چې اوس دالله ﷻ له تورو یوې تورې بیرغ پورته کی یعنې خالدبن ولید رضی الله عنه اووجنګیدی او مسلمانانوته الله ﷻ برې ورکې اوپه یوبل روایت کې دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل (اللهم انه سیف من سیوفک فانت تنصره فمن یومئذ سمی سیف الله) اې الله ﷻ خالد رضی الله عنه ستاله تورو یوه توره ده ته دهغه مرسته وکړې له همدې ورځې خالدبن ولید رضی الله عنه دسیف الله په لقب سره مشهورسو (اصل پیښه خوپه صحیح بخاری کې ذکرسوې ده نورتفصیل دابن اسحق اوبیهقي له روایت څخه رااخیستل سوې دی (۲)

---

(۱) کمااخرج الواقدی عن شیوخه قالوا رفعت الارض لرسول الله ﷺ حتی نظرالی معرکة القوم کذافی الخصائص للیسوئی جلد۱ /ص/ ۳٦۰ وقال ابن کثیرقال الواقدی حدثنی عبدالجباربن عمارة عن عبدالله بن ابی بکربن عمروبن حزم قال لما التقی الناس بمؤتة جلس رسول الله ﷺ علی المنبروکشف له مابینه وبین الشام فهوینظرالی معرکتهم فقال اخذ الرآیه زید رضی الله عنه ، الی اخرالحدیث ، البدایه والنهایه جلد ۴ /ص / ۲۴٦وکذافی الخصائص جلد۱ /ص / ۳٦۰) وفی روایة البیهقی وابی نعیم عن موسی بن عقبه فقال ان الله رفع الی الارض حتی رأیت معترکهم ، کذافی الخصائص جلد۱ /ص / ۲۵۹) وقال ابن اسحق دحدثنی محمدبن جعفرعن عروة قال ثم اخذ الرأیة عبدالله بن رواحة رضی الله عنه فالتری بها بعض الاء ثم تقدم علی فرسه ثم نزل فقاتل حتی ، کذافی فتح الباری جلد ۷ /ص /۳۹۳، اودابن اسحق په روایت کې داالفاظ راغلي دی ، فرأت سریرعبدالله بن رواحه رضی الله عنه ازورارا ، ای میلا وعوجا عن سریری حیاحبیبه فقلتُ عمّ هذافقیل مَضَیَا وتردد عبدالله بعض التردد ثم مضی (سیرة ابن هشام)

(۲) البدایه والنهایه جلد ۴ /ص /۲۴۵، فتح الباری جلد ۷ /ص /۳۹۲، خصائص کبری جلد۱ /ص /۲٦)

سیف لودین کتابتون

ابوبکرصدیق رضی الله عنه چی کله خالدبن ولید رضی الله عنه دمرتدینو دجنګ لپاره لیږی خالد رضی الله عنه ته یې دامارت بیرغ ورکي اوداسی یې وفرمایل (انی سمعت رسول الله ﷺ یقول نعم عبدالله واخوالعشیرة خالدبن الولیدسیف من سیوف الله سلّه الله علی الکفار (اصابه ترجمه خالدبن ولید) ابوبکرصدیق رضی الله عنه وایې چی ماپه خپله له رسول الله ﷺ څخه اوریدلی دی وې فرمایل چی څومره ښه بنده دی دالله ﷻ اودقبیلې ورور خالدبن ولید رضی الله عنه دالله تعالی له تورو یوه توره ده الله په کافرانوباندی دچلولولپاره راایستلی ده یعنی له تیکی راوتلی ده

نکته :. مطلب دادی چی خالدبن ولید رضی الله عنه خودالله ﷻ توره ده اوددی توری چلونکي اوپه کافرانوباندی دهغی کارونکي هم الله تعالی دی اوښکاره خبره چی کومه توره الله تعالی چلوی له هغې توری څوک څان ساتلای سی اوتښتیدلای سی ،، مولانامحمدیعقوب نانوتوی صاحب ددارالعلوم دیوبندلومړی مدرس به داسی ویل چی خالدبن ولید رضی الله عنه خوخپل ټول ژونددشهادت په هیله په جهادکی تیرکي مګر دهغه داهیله پوره نه سوه اوشهادت دهغه په برخه نه سو مولانامحمدیعقوب صاحب به جذباتی سو اوداسی به یې ویل چی خالدبن ولید رضی الله عنه خامخادشهادت هیله اوامیددرلودی دهغه داهیله کله پوره کیدای سوه داناممکن اومحال وو څکه چاته چی رسول الله ﷺ دالله ﷻ توره ویلی وی نوهغه نه څوک ماتولای سی اونه یې کړولای سی دالله ﷻ دتوری ماتیدل هیڅ امکان نه لری اودایونه کیدونکی کاردی .. **بله نکته** : دعبدالله بن رواحه رضی الله عنه په اړه چی رسول الله ﷺ وفرمایل چی مادهغه تخت ښوریدونکی ولیدی داپه حقیقت کی دعبدالله بن رواحه رضی الله عنه دشک مثال وو عبدالله بن رواحه رضی الله عنه ته چی ترشهادت لږمخکی په دې عالم کې کوم شک پیښ سوی وو په عالم غیب کې هغه دښوریدونکی تخت په شکل ورسول الله ﷺ ته وښودل سو کوم شئ چی دلته پټ وی هغه په عالم غیب کې په یوصورت اوشکل ښکاره کیږی ..

دمحمودغزنوی قصه دعبدالله ابن رواحه رضی الله عنه په څیرشک

محمودغزنوی چی کله هندوستان فتح کی اودسومنات مندرټول بُتان یې مات کړه یو بت ترټولوغټ وو کله چی یې دهغه دماتولواراده وکړه دسومنات عبادت کونکی راغلواوپه ډیرتینګاریې غوښتنه وکړه چی دابت مه ماتوه موږبه دبت په اندازه سره زر درکړو خوته دابت مه ماتوه سلطان محمودغزنوی له وزیرانوسره مشهوره وکړه ټولووویل چی موږخوهندفتح کړی دی که یوبت پاته سی نوزموږڅه تاوان نسته اوددې په بدل کی چی کوم مال موږته راکول سی هغه به داسلام په لښکرخرڅ کړو ټولودارأیه تصویب کړه خومسعودغازی هم په دې مجلس کی وو هغه وویل چی داخوبت فروشی ده تراوسه پاچابت شکن وو خوله دی وروسته به بت فروش یادیږی داخبره دمحمودغزنوی په زړه ځای پیداکي خوپه یوڅه شک اوترددکی پاته وو چی څنګه وکړم غرمه ویده سوپه خوب کې یې دحشرمیدان ولیدی محمودغزنوی وایې چی یوه ملکه راسی ماددوزخ خواته

سيف لودين كتابتون

کشوی اووایې چی دابت فروش دی دویمه ملکه راسی هغه می بیاد جنت خواته کشوی
وایې نه داخو بت شکن دی باید جنت ته داخل سی په دې وخت کې زماسترګی خلاصوی
سوی اوراویښ سوم سمدستی می دبت دماتولو امروکی کله چی بت مات سو نو د هغه له
نس دومره جواهرات اوارزښتناک شیان راووتل چی اندازه یې نه کیدله دالله تعالی
شکرمی اداکی چی زه یې دبت له خرڅولو وساتلم او دکوم مال په طمع چی مابت خرڅوی
تر هغه یې ډیر مال یې راکي ،،،، دفرشتو د دوزخ او جنت خواته کشول د هغه د تردد او شک
صورت وو چی محمود غزنوی ته دبت په ماتولو کی پیښ سوی وو دوینتیا په حالت کې
چی کوم شک د ته پیښ سوی وو هغه په خوب کې په دې صورت ورته وښودل سو چی یوه
فرشتی یې دوزخ ته کشوی او بله یې جنت ته بیایی کله دبت ماتولو خواته ځی او کله
دپریښودو خواته ځی که څه هم په حقیقت کی دبت پریښودل بت فروشی نه وه مګر په
صورت کې له بت فروشانو سره مشابهت وو چی هغه الله تعالی په دې شکل کی ورته
وښودی دغه رنګه دعبدالله بن رواحه ﷺ شک او تردد دښوریدونکی تخت په شکل
ورسول الله ﷺ ته وښودل سو هررنګه عبادت پرته له شک نه کول دنفس مطمئنه شان دی
او دشک په وخت کې خپل نفس ملامتول لکه چی عبدالله بن رواحه ﷺ وکړل دادنفس
لوّامه شان دی چی دهغه په حق کې الله تعالی دسورت قیامه په پیل کې قسم کړی دی﴿لاَ
اُقْسِمُ بِیَوْمِ الْقِیَامَةِ﴾ (۱)﴿وَلاَ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ﴾ (۲)سورة القیامة)عبدالله بن رواحه ﷺ چی کله
دجګړی په ډګرکی شعر ووایو دهغه هدف خپل نفس ملاتول وو کله چی یې یو یادوه
شعرونه دنفس دملامتیالپاره وویل وروسته یې نفس مطمئن سو او پرمخ ولاړی او دالله
ﷻ په لاره کې شهید سو او له خپلو ملګرو سره جنت ته داخل سو (یاایها النفس المطئمنة ارجعی
الی ربک راضیة مرضیة فادخلی فی عبادی وادخلی جنتی) نبی کریم ﷺ داغمجنه پیښنه صحابه کرام ﷺ
ته بیان کړه وروسته دجعفر ﷺ کورته ولاړی او دهغه ماشومان یې راوغوښتل او پرسریې
لاس ورتیروی خو ترسترګویې اوښکی روانی وی دجعفر ﷺ میرمن اسماء بنت عمیس ﷺ
یوه سوه وې پوښتل چی یارسول الله ﷺ زمامور او پلار دی پرتا قربان سی ته ولی ژاړی
آیا دجعفر ﷺ او دهغه دملګروپه اړه تاته کوم خبر راغلی دی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل هو نن
هغوئ شهیدان سو ، اسماء بنت عمیس ﷺ وایې چی ددې خبری په اوریدو سره زماله
خولی یوه لویه چیغه ووتله او نوری ښځي هم زماکورته راغلی رسول کریم ﷺ خپل کورته
تشریف یوړی او وې فرمایل . چی جعفر ﷺ دکورنۍ لپاره څه خوراک پوخ کې او وروې
لیږی ځکه نن هغوئ په خپل غم اخته دی په خپله په نبی کریم ﷺ باندی ددې غم آثر ډیر وو
تردې ورځوپوری په مسجدکی دننه وو (زرقانی) خالدبن ولید ﷺ چی اسلامی
لښکربریالی دجګړی له میدان راوایستی له موته څخه بیرته مدینی منوری ته نژدی
راورسیدی رسول الله ﷺ او نور صحابه کرام ﷺ ددوئ دهرکلی لپاره ترمدینه دباندی ووتل
او ددوئ هرکلی او ښه راغلاست یې ووایو

سیف لودین کتابتون

دعمروبن العاص رضی الله تعالی عنه سریه دذات السلاسل په لوری دهجرت ۸ کال

دهجرت اتم کال دڅلورمی خور میاشت وه رسول الله ﷺ ته داخبرورسیدی چې دبنی قضاعه قبیلې لښکرغواړی په مدینه منوره بریدوکړی نبی کریم ﷺ سمدستی ددوئ دمقابلې لپاره عمروبن العاص ﷺ ذات السلاسل ته ولیږی داځای له مدینې منورې څخه لس منزله لیرې پروت دی درې سوه تنه پلې اودیرش سپاره یې ورسره کړل کله چې دوئ هغه ځای ته نژدې ورسیدل نووی لیدل چې دمشرکینوډله ډیره زیاته ده ځکه ودریدل اورافع بن مکیث ﷺ یې رسول الله ﷺ ته ولیږی چې دمرستې لپاره څه نورصحابه ﷺ هم راولیږی رسول کریم ﷺ ابوعبیدة بن الجراح ﷺ ددوه سوه تنو مجاهدینوپه مشرتابه دمرستې لپاره ورولیږی په دوئ کې ابوبکرصدیق ﷺ اوعمرفاروق ﷺ هم وو اووصیت یې ورته وکی چې په خپل مینځ کې اختلاف مه کوی کله چې ابوعبیدة ﷺ هلته ورسیدی نولمانځه وخت راغلی عبیدة ﷺ وغوښتل چې لمونځ ورکړي خوعمروبن العاص ﷺ منع وکړه چې دلښکرامیرخوزه یم ته خوزمادمرستې لپاره راغلی یې ابوعبیده ﷺ وویل ته دخپل ټولګۍ مشریې اوزه دخپل ټولګۍ آمیریم وروسته ابوعبیدة ﷺ وویل نبی کریم ﷺ دراتلوپه وخت اخری خبره ماته داوکړه چې دیوبل خبره منی او اختلاف مه کوی نوځکه زه ستاخبره منم که څه هم ته زمامخالفت کوی ابوعبیدة ﷺ دعمروبن العاص ﷺ امارت اوامامت ومنی وروسته به عمروبن العاص ﷺ لمنځونه ورکول ابوعبیده ﷺ به په هغه پسې اقتداکوله دوئ ټول پریوه ځای دبنی قضاعه قبیلې ته ورسیدل اوپرهغوئ یې بریدوکی کافران وویریدل شاوخواسیموته وتښتیدل صحابه کرامو ﷺ عوف بن مالک اشجعی ﷺ مدینې منورې ته ولیږی چې رسول الله ﷺ ته خبرورسوی عمروبن العاص ﷺ تربریالیتوب وروسته په هغه ځای کې شوورځې پاته سو اوشاوخواسیموته به یې سپاره لیږل هغوئ به اوښان اوبزې ګیرولې اومسلمانانوبه هغه پخول اوخوړل به یې په دې سریه کې عمروبن العاص ﷺ ته احتلام پیښ سو ډیرسخت یخ وو ځکه عمروبن العاص ﷺ غسل ونه کی اوپه تییم سره یې دسهارلمونځ وکی ، درسول الله ﷺ په مخکې چې کله ددې پیښې یادونه وسوه نورسول الله ﷺ وعمروبن العاص ﷺ ته وفرمایل اې عمرو ﷺ تاخپلو ملګروته دجنابت په حالت کې لمونځ ورکړی دی ؟ عمروبن العاص ﷺ وویل اې دالله ﷻ رسول ﷺ زه پرخپل ځان ویردم اودالله تعالی ارشاددی (ولاتقتلوا انفسکم ان الله کان بکم رحیما) نبی کریم ﷺ مسکی سو اوهیڅ یې هم ونه ویل (۱)

فایده : خالدبن ولید ﷺ اوعمروبن العاص ﷺ دواړه په یوه ځای په اسلام مشرف سو ددوئ له اسلام راوړلووروسته دموته غزاپیښه سوه چې په هغې کې خالدبن ولید ﷺ امیرسو اودموته له غزاوروسته دذات السلال غزاپیښه سوه چې په هغې کی بیاعمروبن العاص ﷺ آمیروټاکل سو ..

سیف لودین کتابتون

دامین الامة ابوعبیدة ابن الجراح رضی الله تعالی سریه دسیف البحر په لوری

تردې سریه وروسته دهجرت د اتم کال په بزرګه میاشت کې رسول اللهﷺ ابوعبیدة بن الجراح ؓ ددرې سوه صحابه ؓ په مشرۍ سیف البحرته دسیندغاړې ته په جهنیه قبیله باندې دبرید کولو لپاره ولیږې په دې لښکرکې عمربن الخطاب ؓ اوجابربن عبدالله ؓ هم وو اودروانیدوپه وخت کې دتوښې لپاره رسول اللهﷺ یوه کڅوړه خورماوې ورکړې ورته وې فرمایل چې کله داخورماوې تمامې سي نودخورماووهډوکي زبیښئ اودهغه خوندتیروئ اوجهادوکړئ، صحابه ؓ لاپرلارې ووچې هغه خورماوې خلاصې سوې نودونوپاڼې به یې راشکولې اوپه اوبوکې به یې لمدولې اوخوړلې به یې ځکه ودې سریه ته سریة الخبط هم وایې ځکه خبط په لغت کې دونو پاڼې شکولوته وایې دونودپاڼوپه خوړلوسره یې شونډې اوخولې خوږسوې.. لنډه داچې یوه ورځ دسیندغاړې ته ورسیدل اوله لوږې ډیر ناارامه وو ناڅه یوغیبي رحمت رابښکاره سو هغه داسې چې دسیندپرغاړه دومره غټ ماهي راوغورزیدی چې ددې ټول لښکراتلس ورځې خوراک ځنې وکي صحابه کرام ؓ وایې چې موږ هغه ماهي وخوړې زموږبدنونه ښه قوي اوجوړسوددې ماهي نوم عنبروو ترخوراک وروسته ابوعبیده ؓ ددې ماهي له پښتیوڅخه یوه پښتۍ جګه ودروله اوپه لښکرکې یې ترټولوجګ سړی چاڼ کي اوترټولو پرلوی اوښ سپورسو اوپرته له څه تکلیف دپښتۍ ترهډوکي لاندې تیرسو اودسپاره سړي سرهم له هغه پښتۍ ونه لګیدی .. کله چې موږ مدینې منورې ته راغلو اورسول اللهﷺ ته مو دهغه ماهي یادونه وکړه نونبي کریمﷺ وفرمایل چې داد الله ﷻ له لورې رزق وو چې اللهﷻ ستاسولپاره رالیږلی وو که دهغه څه غوښه درسره پاته وي نوراېي وړئ کله چې دهغه غوښه راوړل سوه نونبي کریمﷺ دهغه څخه خوراک وکي ،، په دې سریه کې جنګ ونه سو داسلام لښکرپرته له جنګه بیرته مدینې منورې ته راستون سو **نکته** :،،، کومه روزي چې دالله ﷻ له لورې په خپله وي اودبنده په کارسره نه وي لاس ته راغلې نوپه هغه روزي کې ډیربرکت وي اوډیره پاکه وي ځکه رسول اللهﷺ ددې برکت اوپاکۍ له کبله ددې غوښتنه وکړه اوهغه یې وخوړله رَبِّ اِنِّیْ لِمَاۤ اَنْزَلْتَ اِلَیَّ مِنْ خَیْرٍ فَقِیْرٌ

فایده :.. دیوشمیرعلماء نظردادی چې داسریه دحدیبیه ترسوله مخکې لیږل سوې ده ځکه رسول اللهﷺ دحدیبیه له سولې وروسته په قریشوباندې دبرید کولولپاره هیڅ سریه نده لیږلې اومشهوره خبرداده چې رسول اللهﷺ داسریه دقریشوپریکړې له سرغړولو وروسته اودمکې ترفتح لږ مخکې لیږلې ده ځکه رسول اللهﷺ دمکې دفتح لپاره په روژه مبارکه کې روان سوی دی اوداسریه درجب بزرګه میاشت کې لیږل سوې ده په مینځ کې یوائې دبرات میاشت پاته کیږي کیدای سي چې دقریشودلوظ ماتولوڅخه وروسته دمکې دفتح دتیاري په وخت کې داسریه لیږل سوې وي اوداسریه دفتح تمهیدوو

مسئله :. درجب الحرام په میاشت کې سریه لیږل ددې دلیل دی چې په عزتمنده میاشت کې له کافرانوسره جهادکول روادي ..

سیف لودین کتابتون

لویه فتح (یعنی دمکې مکرمې فتح دمسلمانانو لوی بریٔ او داسلام عزت دهجرت اتم کال دروژې مبارکه میاشت)

کله چې دقریشو اورسول الله ﷺ په حدیبیه کې سوله وکړه په حدیبیه کې یوپریکړه لیک ولیکل سوپه دغه سوله کې قبائلوته خپل واک ورکول سو چې دچاپه عقداوپریکړه کې غواړي شریک دې سي په همدې بناء باندې بنوبکرله قریشوسره په پریکړه کې ګډون وکي اوخزاعه قبیله له رسول الله ﷺ سره په پریکړه کې ګډون وکي ددې دواړوقبیلو خپل مینځي اختلافات اوجنګونه له ډیره وخته پاته وو په لومړي سرکې مالک بن عبادحضرمي دتجارت له مال سره دخزاعه سیمې ته داخل سو دخزاعه خلکوهغه ووژی اودده ټول مال اوسامان یې لوټ کي ، بنوبکردوخت په پیدا کولوسره دحضرمي په بدل کې دبنوبکردرې مشران ذویب ، سلمی ، اوکلثوم دعرفات په میدان کې دحرم حدودوته نژدې ووژل دجاهلیت له وخت بیادبعثت ترراڅرګندیدودالړۍ روانه وه داسلام له ښکاره کیدو وروسته په اسلامي معاملاتوکې دبوختی له کبله دالړۍ ودریده په حدیبیه کې دمعلومې مودې دسولې له امله دواړه ډلې آرامه سوې بنوبکردخپلې دښمنۍ دراپورته کولووخت پیداکي اوهمداسې یې وکړل له بنوبکرقبیلې څخه نوفل بن معاویه دیلي له خپلوملګروسره په خزاعه باندې دشپې چپاو وروړی اوبریدیې پرې وکي دخزاعه قبیلې څوتنه دتیرپه نامه چیني سره ویده وو پردویٔ یې بریدوکي په دې برید کې له قریشوڅخه صفوان بن امیه ، شیبة بن عثمان ، سهیل بن عمرو ، حویطب بن عبدالعزی اومکرزبن حفص هم په پټه له دویٔ سره مرسته وکړه ، خزاعه وتښتیدل اوپه حرم کې یې پناه واخیسته خودویٔ په حرم کې هم له وژلوخلاص نه سو ، ځکه قریشودبنوبکرهررنګه مرسته وکړه وسله یې هم ورکړه اودجنګ لپاره یې جنګیالي هم ورکړل دخزاعه خلک په مکه کې دبدیل بن ورقاء خزاعي کورته راغلواوپناه یې واخیسته مګر بنوبکراودقریشومشران کورته ننوتل دویٔ یې ووژل اومال یې لوټ کی ددویٔ دافکروو چې رسول الله ﷺ به په دې خبرنه سي کله چې سهارسو نوقریش په خپل کارډیرپښیمانه سو اوپه دې پوه سو چې موږ خولوظ مات کی اوکومه پریکړه چې موږ له رسول الله ﷺ سره په حدیبیه کې لیکلې وه هغه موږ په خپله غلطۍ سره ماته کړه ،

له بل لوري عمرو بن سالم خزاعي د څلویښتو کسانوله یوه پلاوي سره مدینې منورې ته ورسیدی کله چې درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو په دغه وخت کې رسول الله ﷺ په مسجدکی وو عمروبن سالم خزاعي په ولاړه داغوښتنه وکړه

(یَارَبِّ اِنِّیْ نَاشِدٌ مُحَمَّدَا .... حَلْفَ اَبِیْنَا وَاَبِیْهِ الاتْلِدَا

اې ربه ﷻ زه محمدصلی الله علیه وسلم ته دخپل پلارا ودهغه دپلار عبدالمطلب دپخواني

سیف لودین کتابتون

دجاهلیت په وخت کې خزاعه دعبد المطلب حلیفان وو عمرو ودې ته اشاره وکړه لکه څنګه چې موږ ستا حلیفان او په پریکړه کې شریک یو دغه رنګه زموږ پلرونه اونیکه ګان ستا د پلار او نیکه حلیفان وو (۱) ،،،

فائده :.. په یو شمیر روایاتو کې د (یارب انی ناشد) پرځای (اللهم انی ناشد) راغلې دی او په یو شمیر نور روایاتو کی بیاد (یارب) پرځای (لاهم انی ناشد محمدا) راغلی دی لاهُمّ په معنی داللهُمّ دی لکه چې په صحیح بخاری کی راغلی دی (لاهُمَّ لولاانت مااهتدینا) یعنی که ستا توفیق نه وای نو موږ سمه لار نه سوه پیدا کولای ،،، علامه شبلی په سیرة النبی ﷺ جلد ۱ /ص / ۴۶۷ ،، کې لاهُمّ یعنی لاَ هَمّ معنی هیڅ غم نسته زه محمد ﷺ ته لوظ یادوم آه هیڅ غم نسته د رسم خط په یو والی سره علامه صاحب غلط سوی دی)

عمرو بن سالم خزاعی نور شعرونه هم ولوستل :

اِنَّ قُرَیْشًا اَخْلَفُوکَ الْمَوْعِدَا .... وَنَقَضُوْا مِیْثَاقَکَ الْمُؤَکِّدَا

ربنتیا هم قریشو ستا سره د ژمنی خلاف کار وکی او ستا سره یې ټینګ ژمنه ماته کړی ده

هُمْ بَیَّتُوْنَا بِالْوَتِیْرِ هُجَّدًا .... وَقَتَلُوْنَا رُکَّعًا وَ سُجَّدًا

دې خلکو په موږ باندی په وتیر چینه کې دخوب په حالت کې دشپې برید وکی او د رکوع او سجدی په حالت کې یې موږ وو ژلو ،،،

په دوئ کې یو شمیر مسلمانان هم وو که څه هم دوئ په خپله مسلمانان نه وو

وَجَعَلُوا لِیْ فِیْ کِدَاءٍ رُصَّدًا .... وَزَعَمُوا اَنْ لَسْتُ اَدْعُوا اَحَدًا

او په کداء نامه ځای کې یې خلک زموږ د څارلپاره کښینول ددوئ داګمان وو چی زه به هیڅوک دمرستی لپاره نه راوغواړم

وَهُمْ اَذَلُّ وَاَقَلُّ عَدَدًا :::::: او دوئ ټول ذلیل او په شمیر کې لږ هم دی

وَوَالِدًا کُنَّا وَکُنْتَ الْوَلَدَا .... ثُمَّتْ اَسْلَمْنَا وَلَمْ نَنْزِعْ یَدًا

موږ د پلار په منزله یو او ته د اولاد په منزله یې ،، اوله دې پرته موږ ستا تل پیروی کړی ده هیڅکله موږ ستا له پیروی څخه لاس نه دی پورته کړی ،،

دوئ ځانونه د پلار په منزله بلل ځکه دعبد مناف مور له خزاعه قبیلی څخه وه او بل دا چې دقصی مور فاطمه بنت سعد هم له خزاعه قبیلی څخه وه

د دې خپلوی په بناء باندی زموږ مرسته پر تا لازم ده موږ هیله لرو چی د خپلو وفادارو مرسته وکړې .

فَانْصُرْ اَهْدَاکَ اللهُ نَصْرًا اعْتَدَا .... وَادْعُ عِبَادَ اللهِ یَأْتُوا مَدَدًا

نو تاسو په تلوار سره زموږ مرسته وکړی الله تعالی دې ستاسو مرسته وکړی او د الله خاص بندګان یعنی خپلو صحابه کرام ﷺ ته امر وکړه چی دوئ زموږ د مرستی لپاره هرو مرو راسی او په یوه نسخه کې راغلی دی (فانصر رسول الله نصرا اعتدا) اې دالله ﷻ رسول ﷺ زموږ سمدستی مرسته وکړه.

---

(۱) [illegible]

سیف لودین کتابتون

فِيهِمْ رَسُولَ اللّٰهِ قَدْ تَجَرَّدَا .... إِنْ سِيمَ خَسْفًا وَجْهُهُ تَرَبَّدَا

کله چې د الله ﷺ د دوستانو لښکر زموږ مرستې ته راسي نو په دوئ کې به خامخا د الله ﷺ رسول ﷺ هم وي ، هغه به د تیرې کونکو د جګړې لپاره تیار وي یعنې یوائې خپل ملګری مه را لیږه بلکې له هغه لښکر سره دي رسول الله ﷺ په خپله هم تشریف راوړي او که ظالمان هغه ته کوم سپکاوی رسول و غواړي نو د هغه مخ مبارک د غیرت له کبله نه بدلیږي .

په یو شمیر نسخو کې د (قدتجردا) پر ځای (قدتحردا) (۱) په حاء مهمله سره راغلی دی چې د هغه معنی ده غضبناک کیږي

فِي فَيْلَقٍ كَالْبَحْرِ يَجْرِي مُزْبِدًا ::::او هغه ﷺ به له ځان سره داسې لښکر راولي چې د سیند په څیر به څګونه کوي .. (دا ټول تفصیل په معاني الاثار للامام الطحاوي او سیرة ابن هشام او روض الانف او زرقاني شرح مواهب کې راغلی دی او په کوتاه ډول په فتح الباري کې هم یاد و نه سوی ده (۲)

د ابن عائذ په مغازي کې له عبد الله ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې رسو ل الله ﷺ چې کله دا پیښه و اوریده نو وې فرمایل (نُصِرْتَ يَا عَمرو بن سالم) او په یو بل روایت کې راغلی دی چې داسې یې وفرمایل لما سره دې هیڅ وخت مرسته و نه شي که زه ستاسو سره مرسته و نه کړم وروسته یې وپوښتل چې آیا ټول بنوبکر په دې برید کې شریک وو ؟ عمرو بن سالم وویل ، نه ټول نه وو بلکې د بنوبکر قبیلې څخه یوائې بنونفاثه او د هغوئ مشر نوفل شریک وو ، رسول الله ﷺ له دوئ سره د مرستې ژمنه وکړه کله چې پلاوی رخصت سو ، رسول الله ﷺ سمدستي قریشو ته یو استازی ولیږی چې قریشو ته دا پیغام ورسوه چې په درې خبرو کې چې کومه یوه ستاسو خوښه وي هغه غوره کې ؟

لومړی.۱. د خزاعه څخه چې کوم خلک وژل سوي دي د هغوئ دیت دې ورکړل سي

دویم.۲.یا دې بنونفاثه له پریکړې او ژمنې څخه بیل سي

دریم.۳.یا دې د حدیبیه د پریکړه لیک فسخ اعلان سي

استازی چې کله پیغام ورسوی نو د قریشو له لوري قرطفه بن عمرو داځواب ورکی چې نه موږ د خزاعه د وژل سویو کسانو دیت ورکوو ، او نه د بنونفاثه سره خپلې اړیکې شلوو یعنې د حدیبیه د سولې په ماتولو باندې راضي یو مګر د استازي له روانیدو وروسته قریش ډیر پښیمانه سو سمدستي یې ابوسفیان ډیر په تیزۍ د پریکړې د نوي کولو لپاره او د سولې د مودې د زیاتولو لپاره مدینې منورې ته ولیږی (۳)

(۱) روی بحاء مهمله اي شمرو وتهيأ لحربهم ، زرقاني
(۲) فتح الباري جلد ۷ /ص /۳۹۹)
(۳) فتح الباري ...

سیف لودین کتابتون

ابوسفیان مدینې منورې ته د پریکړې د نوې کولو او وخت زیاتولو لپاره ځي

ابوسفیان د سوله د نوې کولو لپاره له مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته روان سو ، رسول الله ﷺ صحابه کرام ؓ ته خبرورکې چې ابوسفیان د سولې د مودې د زیاتولو او د پریکړې د نوې کولو لپاره راروان دی کله چې ابوسفیان له مکې څخه راتلی د عسفان په نامه ځای کې یې له بدیل بن ورقاء خزاعي سره ولیدل ابوسفیان له بدیل بن ورقاء څخه وپوښتل چې له کومه ځایه راغلې بدیل ورته وایې زه له نژدې کندو څخه راغلم بدیل دا خبره وکړه او د مکې پر لورې روان سو ابوسفیان فکروکې چې بدیل خو به خامخا له مدینې راغلی وی نو دی هم راغلی هغه ځای ته چیرې چې بدیل خپل اوښ چوکړی وو ابوسفیان د بدیل د اوښ پچه راپورته که او ماته یې کړه وې کتل چې په پچه کې د خورمازنې دی ابوسفیان وویل قسم په الله ﷻ بدیل خو له مدینې څخه راغلی دی او دا د خورمازنې د مدینې د خورما وو دی ابوسفیان زړه ماتی مدینې ته روان سو کله چې مدینې ته ورسیدی نو لومړی د خپلې لور امّ المؤمنین ام حبیبة رضی الله تعالی عنها کورته ورغلی کله چې د ام حبیبه ؓ کوټې ته ننوتی نو ام حبیبه ؓ بستره پورته کړه ؟ ابوسفیان وویل اې لورې تا دا بستره ولې پورته کړه آیا دا دې زما وړ نه وګڼله او که دې زه د دې بسترې وړ او لائق ونه ګڼلم ؟ ام حبیبه ؓ ورته وویل دا د رسول الله ﷺ بستره ده په دې باندې دیو مشرک چې د شرک په مردارۍ ککړ وی نه سی کېنستلی ابوسفیان په غصه سو وې وویل اې لورې قسم په الله ﷻ ته تر ما وروسته په شر اخته سوې یې ؟ ام حبیبه ؓ ورته وویل په شر نه یم اخته سوې بلکې د کفر له تیارو راوتلې یم او د اسلام په رڼا ځلېدلې یم او زه تا ته حیرانه یم چې ته د قریشو مشر او سردار یې خو بیا هم د کاڼو عبادت کوې ابوسفیان له هغه ځایه ولاړ سو سیده مسجد ته راغلی رسول الله ﷺ ته یې عرض وکې چې زه د قریشو له لورې د پریکړې د نوې کولو لپاره او د سولې د مودې د زیاتولو لپاره راغلی یم ؟ رسول الله ﷺ هیڅ ځواب ورنه کړ ، کله چې ناهیلی سو له هغه ځایه راغلی ابوبکر صدیق ؓ ته له هغه یې د مرستې غوښتنه وکړه ، ابوبکر صدیق ؓ ورته وویل په دې اړه زه هیڅ هم نه سم ویلای تر دې وروسته عمر بن الخطاب ؓ ته راغلی او له هغه یې د مرستې غوښتنه وکړه عمر بن الخطاب ؓ په ځواب کې ورته وایې الله اکبر زه ستا د مرستې لپاره رسول الله ﷺ ته ورسم که په دنیا کې زما سره یو څوک هم نه وی نو بیا به هم زه یوازې د جهاد لپاره تیار یم ، ابوسفیان چې کله دا خبرو اورېدې له هغه ځایه راغلی علي ؓ ته په دغه وخت کې د علي ؓ وڅنګ ته فاطمة الزهراء ؓ او حسن ؓ هم ناست وو ابوسفیان علي ؓ ته وویل اې ابوالحسن ؓ ته تر ټولو په خپلوی کې موږ ته نژدې یې زه دیو ډېر مهم کار لپاره راغلی یم دا نه غواړم چې ناکام بیرته ولاړ سم نو ځکه ته رسول الله ﷺ زما سفارښت وکړه ؟ علي ؓ وویل قسم په الله ﷻ رسول الله ﷺ په دې اړه څه نیت کړی دی ځکه اوس هیڅوک نه سی کولای چې په

سیف لودین کتابتون

دی اړه له رسول الله ﷺ سره خبری وکړی ابوسفیان چی کله داخبره واوریدله په ډیرعجزیې یې فاطمة الزهراء ؓ ته وویل اې بنت محمدصلی الله علیه وسلم ته که ودې کوچنی یعنی حسن ؓ ته داحکم وکی چی ته ووایه چی ماقریشوته پناه ورکړی ده نودتل لپاره به دعربوسرداره ومنل سی ، فاطمة الزهراء ؓ ورته وویل چی اول خوداکوچنی دی اوپناه ورکول دلویانوکاردی اوبل داچی درسول الله ﷺ دخوښي خلاف څوک پناه ورکولای سی ابوسفیان علی ؓ ته مخ واړوی وې ویل چی کارخوډیر ګران سو ته ماته یولاره راوښیه چی زه څه وکړم ؟ علی ؓ ورته وویل نورخوزماپه ذهن کې څه نه راځی یوه خبره زماپه فکرستالپاره ګټه کولای سی ته فکرپکی وکړه هغه داچی مسجدته ولاړسه اوپه لوړآوازووایه چی زه دحدیبیه دسولی دنوی کولواودسولی دمودی دزیاتولولپاره راغلی یم ، ابوسفیان هم سمدستی راغلی مسجدته اوداناره یې وکړه له هغه ځایه روان سو مکی مکرمی ته ورسیدی ټوله پیښه یې قریشوته بیان کړه قریشوورته وویل آیامحمد ﷺ هم ستادا اعلان دمنلوپه معنی ومنی ابوسفیان وویل نه ، قریشو وویل چی دمحمد ﷺ له اجازی اوخوښي پرته موږ څنګه ډاډه سو ، قریشووویل ته هم هسی ولاړی راغلی هیڅ کاردی نه وکي قسم په الله ﷻ علی ؓ په تاپوری ټوقی کړی دی تانه دسولی خبرراوړی چی په هغه سره موږډاډه سو اونه دې دجنګ خبرراوړی چی موږ تیاری وکړو کله چی ابوسفیان مکی ته ولاړی رسول الله ﷺ پټ وخپلوملګرو ؓ ته دجنګ دتیاری اودسفردتوکودتیارولواودوسلوسمبالولوامر وکی اوداټینګاریې وکی چی داخبره دی پټه وساتل سی اودشاوخواقبیلوته یې خبرولیږی چی تیارسی !

دحاطب بن ابی بلتعه رضی الله تعالی عنه قصه !

کله چی مسلمانانوپه پټه دجنګ تیاری کوی په همدی وخت کې حاطب بن ابی بلتعه ؓ دمکی دخلکوپه نامه یولیک ولیکی اوپه پټه یې دیوی ښځي په لاس دالیک مکی ته ولیږی الله تعالی رسول الله ﷺ ته دوحی له لاری ددې لیک خبرورکی رسول الله ﷺ علی ؓ اوزبیر ؓ اومقداد ؓ ولیږل چی تاسوولاړسی دروضه په نامه ځای کې به یوه ښځه په اوښ سپره وی له هغې سره دحاطب بن ابی بلتعه ؓ لیک دی چی دمشرکینولپاره لیکل سوی دی له هغې ښځی به لیک راوړی ، دوئ وایې کله چی موږهغه ځای ته ورسیدلو نوهغه ښځه مو ولیده سمدستی مو ددی اوښ ودروی اودهغې لټون مووکي خولیک په لاس نه راغلی موږ ورته وویل قسم په الله ﷻ دالله رسول ﷺ هیڅکله غلط نه وایې لیک راکړه ښځي وویل لماسره هیڅ لیک نسته موږبیاورته وویل چی ښه به داوی چی هغه لیک راکړی که داسی ونه کړی نوموږستابربنډه تلاشی اخلو ښځه وویریده سمدستی یې له خپلوکوڅیوڅخه لیک راوایستی اوموږته یې راکي موږهغه لیک رسول الله ﷺ ته راوړی رسول الله ﷺ حاطب بن ابی بلتعه ؓ راوغوښتی ځنی وپوښتل چی داڅنګه معامله ده ؟

سیف لودین کتابتون

حاطب ﷺ وويل اې دالله رسول ﷺ د قريشوله ماسره هيڅ خپلوی نسته يوائې ددوستی اړيکی مې دی ورسره اوزماکورنۍ اواولادونه په مکه کی دی دهغوئ هيڅ مرستندوئ نسته دنورومهاجرينوهلته خپل خپلوان سته دخپلوی په وجه ددوئ اولادونه اوکورنۍ خوندی دی په دی وجه ماوغوښتل چی له قريشوسره څه نيکی وکړم اودهغه په بدله کې به دوئ زمادکورنۍ اواولادوساتنه وکړی قسم په الله ﷻ که داکارماله دين داوښتوپه وجه کړی وی اوپه اسلام کی له داخليدو وروسته بيرته په کفرباندی دراضی کيدوپه وجه نه دی بلکې زمايوائنی هدف داووکوم چی مادرته بيان کي (دادصحيح بخاری روايت دی)

اودابن مردويه په روايت کی ابن عباس ﷺ له عمر ﷺ څخه روايت نقل کړی دی وايې چی (فكتبتُ كتاباً لايضرالله ورسوله) مايوليک وليکی په هغه ليک کې زماداګټه وه اودالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ هيڅ زيان پکی نسته.

په صحيح بخاری کی راغلی دی چی رسول الله ﷺ دحاطب ﷺ له ويناوروسته وويل:

(اَمَا اِنَّهُ قَدْ صَدَقَكُمْ) پام کوی رښتياهم حاطب ﷺ تاسوته رښتياوويل

عمرفاروق ﷺ وويل يارسول الله ﷺ اجازه راکړه چی ددې منافق سرغوڅ کړم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: (انه قد شهد بدراً ومايدريک لعل الله اطلع على اهل بدر فقال اعملوا ماشئتم فقد غفرت لكم)

رښتياهم حاطب ﷺ بدرته حاضرسوی دی اواې عمر ﷺ ته څه خبريې کيدای سی چی الله تعالی درحمت په نظر بدريانوته فرمايلی وی چی څه غواړی کوی ماستاسوبښنه کړی ده

عمرفاروق ﷺ چی کله داخبره واوريده، وې ژړل اووې ويل (الله ورسوله اعلم) الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ ښه خبردی ،،، يعنی څوک چی دبدرپه جنګ کی شريک سوی دی هغه هيڅلکه نه منافق کيږی دې خلکودالله ﷻ په لاره کې هغه قربانی ورکړی دی چی دعرش نژدی فرښتی هم دوئ ته حيرانيږی په بدرکې چی هرڅوک درسول الله ﷺ مقابلی ته راوتلی وو که دصحابه کرام ﷺ پلرونه واوکه زامن اوکه دوستان ودوئ بی دريغه له هغوئ سره وجنګيدل دالله ﷻ اودرسول ﷺ دمينی په نشه کې مستی داسی کچی ته رسيدلی وه چی په خپلوځانوهم نه پوهيدل اودالله ﷻ دين يې لوړ کړی دی اودکفراوشرک په سرباندی يې داسی وارکړی دی چی هغه ټپ بيادتل لپاره جوړنه سو ،،، ددې لويې قربانی په بدل کې الله ﷻ دوئ ته درضی الله عنهم ورضوا عنه انعام ورکی اود (اولئک کتب فی قلوبهم الايمان) ښائسته تاپه يې پرولګوله او وروسته چی دکومو ګناهونه دکيدلوامکان وودهغه معنی په صيغه دماضی سره بيان کړه يعنی (فقدغفرت لكم) په صيغه دماضی سره او (قديغفرلكم) يې په صيغه دمضارع سره نه دی فرمايلی ددی دپاره چی دبدريانودګناهوښنل په قطعی اويقينی ډول سره ثابت سی چی دهغوئ ښبنه دتيری سوی زمانی دکارپه څيريقنی اوثابت ده اود (اعملواماشئتم) وينا دعزت اودرناوی ويناده وديې ته اشاره ده چی بدريان که هرڅه

سیف لودین کتابتون

دانه دی چې بدریانو ته هرڅه جائزاوروادی بلکې معنی یې داده چې بدریان که هرڅه کوی خوپه هیڅ حال کی هم دعفوی اوبښنی له دائری نه وزی داسی وینا وهغه دوستانو ته کیږی چې دهغوئ له خپل محبوب څخه نافرمانی ممکن نه وی ،،، دبدرشریک کیدل خوپه ښکاره یوه نیکی ده مگر په حقیقت کې دزړهاو ﷺ وسلهاووزره ښیګڼویوعنوان اواجمال دی اودایمان اواحسان اوربښتینولی یوسنددی ځکه که په بدرکې شریک صحابه ﷺ دبشریت په غوښتنه یوه غلطی یاسهوه وکړی نو هغه د (رضی الله عنهم ورضواعنه اولئک کتب فی قلوبهم الایمان) څخه نه سی وتلای ځکه دادعالم اوخبیرذات ﷻ وینا ده چې په هغه کې ددروغو هیڅ امکان نسته الله تعالی تردی وینامخکی معلومه وه چې له دوئ به خطاکیږی خوسره له دی ازلی اوابدی علم بیاهم الله ﷻ دوئ ته درضی الله عنهم ورضواعنه انعام ورکی له دی معلومه سوه چې ددې لویی نیکۍ وروسته دهغوئ څخه داسی غلطی نه کیږی چې ددوئ نیکی خرابه کړی بلکې دالویه نیکی دراتلونکی لپاره کفاره جوړیږی لکه چې الله تعالی فرمایې : (انَّ الحَسَنَاتِ یُذهِبنَ السَّیئاتِ) په تحقیق سره نیکۍ بدیانی ختموی ..

اویوه شاعرڅومره ښه ویلی دی : واذاالحبیب اتی بذنب واحد...... جائت محاسنه بالف شفیع

که له دوسته یووخت څه غلطی وسی نو دهغه تیری سوی نیکۍ ستامخ ته زر سفارښتنه کوی

په زړه کې چې کله یو فاسداوزهرلرونکی ماده نه وی نوبیاګناه دومره زیان نه رسوی بلکې دزړه ایمانی قوت هغه وتوبه اواستغفارته تیاروی چې په هغه سره یوائې دانه چې ګناه یې ښښل کیږی بلکې په نیکۍ سره بدلیږی لکه چې الله تعالی فرمایې ﴿إِلاَّ مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلاً صَالِحاً فَأُوْلَئِكَ يُبَدِّلُ اللهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللهُ غَفُوراً رَّحِيماً﴾ (۷۰) آیت سورة الفرقان)

کوموخلکوچې دکفراوشرک څخه توبه وایسته اوایمان یې راوړی اوښه کارونه یې وکړل الله تعالی ددا سی خلکوبدۍ په نیکۍ بدلوی اوالله ﷻ ښښونکی اومهربان ذات دی .

بنده چې کله توبه اوبښنه وغواړی اوپه خپله ګناه پښیماتیا ښکاره کې نوالله تعالی دهغه بدیانی په نیکیانوبدلوی

داآیت دعامومؤمنانوپه حق کی دی ، خوبدریان ترټولوډیر ددې وړدی اودچاپه زړه کی چې کومه فاسده ماده وی نوپه زړهاوو عبادتونه هم هغه ته هیڅ ګټه نه رسوی لکه ابلیس لعین اوبلعم بن باعوراء (اولکه اوس وخت چې په افغانستان کی ملعون عبدالرب رسول سیاف دبلعم بن باعوراځای ناستی دی)مترجم) خوارج ، روافض که په زړهاوو لمنځونه اوروژی اوپه سلهاووزره عبادتونه وکړی خوترڅوپوری چې زړه پاک نه کې اوداخرابه ماده له زړه ونه باسی ترهغه وخت پوری دوئ ته هیڅ عبادت ګټه نه رسوی داسی مثال لری لکه دصفراوی مزاج ناروغ ته چې هرڅومره خوندور اومزه دارخوراکونه ورکړه سی خوبیاهم هغه ته هیڅ ګټه نه رسوی ځکه دمزاج په وجه هغه مزه دارخوراکونه په صفراء کې

سیف لودین کتابتون

حل کیږی الله تعالی فرمایي : ﴿فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللهُ مَرَضاً وَلَهُم عَذَابٌ اَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ﴾ (۱۰آیت سورة البقره) ددوئ په زړوکی ناروغی ده الله تعالی ددوئ ناروغی نوره هم زیات کړه اوددوئ لپاره سخت او دردناک عذاب دی.

روغ جوړ سړی که په غلطی سره څه بدپرهیزی وکړی نودهغه لپاره د تداوی اړتیانسته دهغه طبیعت ددی ناروغی مخنیوی کوی ، عمر ﷺ دحاطب ﷺ داغلطی دمزاج په فسادباندی حمل کړه اودمنافقت حکم یې پروکي اودوژلواجازه یې وغوښتله خودروحانی طبیبانورئیس صلی الله علیه وسلم په ځواب کې ورته وویل اې عمر ﷺ دحاطب ﷺ زړه دنفاق له ناروغی بیخی پاک دی داکاریی په ناخبری کړی دی یوه غلطی سوی ده دهغه روحانی مزاج بیخی روغ جوړدی په بدرکی ګډون دده روحانی مزاج جوړکړی دی خوناڅاپه بدپرهیزی ځنی وسوه دروغ مزاج سړی ته که نزله یازکام ورسیږی نودهغه لپاره معمولی جوشانده کافی وی ،،

رسول الله ﷺ حاطب راوغوښتی اوپوښتنه یې ورته وفرمایل (ماهذایاحاطب ﷺ) اې حاطب ﷺ داڅه پیښه ده ، دده لپاره داکافی جوشانده ده ،، ددې جوشاندی په خوړلو سره دبدپرهیزی اثرداسی ختم سو چی ترمرګه پوری یې بیاهیڅ شکایت نه دی کړی رضی الله عنه وارضاه اوهمداسی وسو کله چی رسول الله ﷺ داسکندریه پاچاته داسلام بلنلیک لیږی نوهمدغه حاطب ﷺ ته یې ورکي لکه چی په مخکی پاڼوکی تیرسو سبحان الله څنګه درباروو چی یوی خواته حاطب ﷺ ته جوشانده ورکول کیږی اوبلی خواته عمربن الخطاب ﷺ ته دروحانی مرضودتشخیص اوعلاج لاری ښودل کیږی ددی لپاره چی کله اړتیاپیښه سی نوعمرفاروق ﷺ دمرض په معلومولواودرملنه کی غلطی ونه کړی

دحاطب بن ابی بلتعه رضی الله تعالی عنه دلیک مضمون !

دحاطب ﷺ دلیک مضمون هم په همدی دلالت کوی چی دده منشأ عیاذاً بالله منافقت نه ووهغه لیک داسی وو : (اما بعدفان رسول الله صلی الله علیه وسلم جائکم بجیش کالليل یسیر کالسیل فوالله لوجائکم وحده لنصره الله وانجزله وعده فانظروا لانفسکم والسلام) ژباړه : اې قریشو رسول الله ﷺ له یوه ویرونکی لښکرسره تاسوته درروان دی چی دسیلاب په څیربه بهیږی قسم په الله ﷻ که رسول الله ﷺ یواځی هم درسی نوالله تعالی به خامخاله ده سره مرسته کوی اودفتح اومرستی کومه ژمنه چی الله تعالی له ده سره کړی ده هغه به خامخاپوره کوی (یعنی دهغه دبریالیتوب رازپه لښکرپوری نه دی تړلی) نوتاسودخپل کارفکروکوی ، والسلام ..

دالیک یحی بن سلام په خپل تفسیرکې یادکړی دی چی هغه بیاعلامه قسطلانی دبخاری په شرح کتاب الجهادباب حکم الجاسوس کې نقل کړی دی اودفتح الباری په باب غزوة الفتح کې هم ذکر شوی دی او په البدایه والنهایه کې هم شته (البدایه والنهایه جلد ۴ /ص ۲۸۴)

سیف لودین کتابتون

ددې لیک مضمون د حاطب بن ابی بلتعه ؓ دهغه عذر په ښکاره تصدیق او تائید کوی کوم چې مخکې تیر سو (فكتبت كتاباً لايضرالله ورسوله) ماداسی لیک ولیکي چې الله ﷻ او رسول ﷺ ته هیڅ زیان نه رسوی .

د واقدی په روایت کې راغلی دی چې دا لیک سهیل بن عمرو او صفوان بن امیه او عکرمة بن ابی جهل ته لیکل سوی وو دوئ درې واړه د مکی په فتح کې په اسلام مشرف سوی دی رضی الله عنهم (۱) او په یوه بل روایت کی راغلی دی چې دلیک مضمون داسی وو (ان محمدا قد نفر فاما اليكم واما الى غيركم فعليكم الحذر) ژباړه : رښتیا هم محمد صلی الله علیه وسلم دغزا لپاره وتونکی دی خو دا معلومه نه ده چې کومی خواته یې نیت کړی دی ستاسو لوری ته او که بل لوری ته تاسو خپل فکرو کوی ..

الله تعالی د حاطب ؓ په دې پیښه کې سورة ممتنحه نازل کي الله تعالی فرمایې :

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ﴾ (سورة الممتنحه آیت ۱)

په دې آیت الله تعالی له کافرانو سره د دوستی داړیکود پریکولو بیان کړی دی د دی سورت تفسیر وګوری ..

اسلامی لښکر له مدینې منورې روانیږي !

رسول الله صلی الله علیه وسلم د روژې مبارکی په لسمه ورځ له لس زره ۱۰۰۰۰ لښکر سره د مازیګر له لمانځه وروسته له مدینې منورې څخه د مکې مکرمې په لوری روان سو ، بخاری فتح الباری جلد ۸ /ص / ۲) او له امهات المؤمنین څخه ام سلمه ؓ او میمونه ؓ ورسره ملګری وی کله چې رسول الله ﷺ ذوالحلیفه یاجحفه ته ورسیدی نو حضرت عباس ؓ له خپل کورنۍ سره له مکې مکرمې څخه هجرت کړی وو او مدینې منورې ته راروان وو په لاره کې سره یوځای سو د رسول الله ﷺ په خبره دهغه سامان مدینې منورې ته ولیږل سو او عباس ؓ په خپله له رسول الله ﷺ سره په اسلامی لښکرکې د جهاد لپاره ملګری سو او بیرته مکې مکرمې ته ستون سو عباس ؓ خو مخکې لا اسلام راوړی وو خو له قریشو یې خپل اسلام پټ ساتلی وو رسول الله ﷺ و عباس ؓ ته وفرمایل اې عباس ؓ ستا هجرت آخری هجرت دی لکه زما نبوت او رسالت چې آخری نبوت او رسالت دی عباس ؓ مخکې د رسول الله ﷺ په امر سره په مکه کې او سیدی ددې لپاره چې د قریشو خبرونه رسول الله ﷺ ته ورسوی ،، په مسند ابی یعلی او معجم طبرانی کی راغلی دی چې د مکه داوسیدو په وخت کې عباس ؓ د رسول الله ﷺ څخه د هجرت اجازه وغوښته نبی کریم ﷺ په ځواب کې ورته وفرمایل چې اې آکا ته په خپل ځای اوسیږه الله تعالی به هجرت په تا باندی ختموی لکه چې نبوت یې پر ما پای ته رسولی دی (زرقانی جلد ۲ /ص / ۳۰۰)

او د ابواء (۲) په نامه ځای کې ابو سفیان بن حارث او عبد الله بن ابی امیه د اسلام راوړلو په

(۱) زرقانی جلد ۲ /ص / ۲۹۸) —— (۲) ابواء د همزه په زبر سره او د با په غړوندی سره دی ابواء یو کلی د مکی او مدینی په مینځ کې

سیف لودین کتابتون

نیت له مکې راوتلی اومدینې منورې ته د هجرت په موخه روان وو ابوسفیان بن حارث بن عبدالمطلب (۱) د رسول الله ﷺ د اکازوی اورضاعي ورور هم وو د حلیمه سعدیه شیدې یې رودلې وې ترنبوت مخکې د رسول الله ﷺ ځانګړې دوست وو په هیڅ وخت کې به له هغه څخه نه بیلیدی خو د رسول الله ﷺ تربعثت وروسته دوستي په دښمنۍ اومینه په کرکه بدله سوه د رسول الله ﷺ له سختو دښمنانو څخه سو او د رسول الله ﷺ په حق کې به یې شعرونه هم لوستل حسان بن ثابت رضی الله عنه دده د شعرو ځواب ورکړی دی له ابوسفیان بن حارث سره دده زوی جعفرهم وو ،،،اوعبدالله بن ابی امیه د رسول الله ﷺ د ترور (امه) عاتکه بنت عبدالمطلب زوی وو دئ هم د رسول الله ﷺ له سختو دښمنانو څخه وو دوئ دواړه په ابواء کې د مسلمانانو لښکرته په مخه ورغلو اوله رسول الله ﷺ سره د لیدوغوښتنه یې وکړه ، خوڅنګه چې رسول الله ﷺ ته دوئ ډیرتکلیفونه رسولي وو ځکه رسول الله ﷺ د دوئ غوښتنه نه ومنله او اجازه ورنه کړه ام المؤمنین ام سلمه رضی الله عنها سفارښتنه وکړه و رسول الله ﷺ ته یې وویل چې یوستاد اکازوی دی اوبل دې د عمه زوی دی ته ورسره ووینه ، رسول الله ﷺ وویل ماته له دوئ سره د لیدو هیڅ اړتیانسته د اکازوی زما بې عزتي کړې ده اود عمه زوی هغه څوک دی چې په مکه کې یې ماته ویلي وو چې که ته اسمان ته په زینه کې وخیژې اوزه تاپه خپلو سترګووینم اوبیا ته له اسمان کتاب راکښته کړې اوڅلورملائکه وې ستاسره ملګرې وې اوداشاهدي ورکړې چې ته دالله ﷻ رسول ﷺ یې بیابه هم زه په تاباندې ایمان نه راوړم . ام سلمه رضی الله عنها ورته وویل یارسول الله ﷺ ستاله عزتمندو اخلاقو څخه داهیله کیږي چې ستاد نعمت له سترخانه ستاد اکازوی اود عمه زوی بې برخې پاته نه سي ، اوکله چې ستامهرباني اوبښنه عامه ده نوبیا دوئ ولې بې برخې پاته کیږي ..

ابوسفیان بن حارث وویل چې که رسول الله ﷺ په خپل دربارکې د حاضرۍ اجازه نه راکوی نوزه خپل زوی جعفربیایم اوبیوې صحراته ته وزم اوهلته به یوائې وږی تږی مړسم ؟ رسول الله ﷺ چې دام المؤمنین ام سلمه رضی الله عنها سفارښت اود دوئ دواړو ډیرخجالت اوپښیمانتیا اوریده نود حاضریدو اجازه یې ورکړه کله چې حاضرسو نود واړه په اسلام مشرف سو اوله مسلمانانوسره یوځای مکې مکرمې ته روان سو

حافظ ابن عبدالبر اومحب طبري روایت کوی چې علي رضی الله عنه ابوسفیان بن حارث ته دامشوره ورکړه چې د رسول الله ﷺ مخ ته ودریږه اوهغه خبره وکړه کومه چې د یوسف علیه السلام ورونو یوسف علیه السلام ته کړې وه چې ﴿قَالُوا تَاللّٰهِ لَقَدْ آثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَإِن كُنَّا لَخَاطِئِينَ﴾ (۹۱) سورة یوسف) قسم په الله ﷻ رښتیا هم ته الله ﷻ په موږ باندې غوره کړې وې اورښتیا هم موږ ګنهکاره یو .

سیف لودین کتابتون

دمخامخ دریدلو مشوره یې ځکه وکړه چې درسول اللهﷺ دمخ اوسترګو حیاء دهغه او دهغه دملامتیا په مینځ کې پرده سی لکه چې همداسی وسوا ودرحمت للعالمین صلی الله علیه وسلم له ژبې مبارکې څخه دا ځواب ووتی : لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿۹۲﴾سورة یوسف) نن ورځ پر تاسو هیڅ ملامتی او الزام نسته اللهﷻ دی تاسو ته ببښنه وکړي هغه په ټولو مهربانی کونکیو کې تر ټولو مهربان دی .

دابوسفیان عذر و منل سو او دنبي کریمﷺ دلاربنوونی برابر چې (الاسلام یهدم ماکان قبله) داسلام کولنګ دابوسفیان زړه و کینه دی او داسی یې پاک کی چې اوس دهغه په زړه کې هیڅ خیری هم پاته نه سو ، ایمان ، اخلاص ، احسان ، او یقین یې ددوئ په زړو کې ټینګ سو داسی چې له دباندی څخه هیڅ ګرځ اودوړی ددوئ وزړو ته نه سی رسیدای او له همدی ځایه داللهﷻ په لاره کې دسرور کولو او قربانی لپاره له رسول اللهﷺ سره ملګری سو ، ویلی کیږی چې ابوسفیان بن حارث ﷺ ددیری حیاء له کبله په ټول ژوند کې رسول اللهﷺ ته پورته نه دی کتلی اورسول اللهﷺ دهغه په اړه دجنت شاهدی ورکوله ، رضی الله عنه وارضاه (زرقانی جلد ۲ /ص/ ۳۰۰ ترص/ ۳۰۲)

ابوسفیان بن حارث ﷺ دتیری کوتاهی په عذر کې ډیر شعرونه وویل

لعمرک انی یوم احمل رأیته .... لتغلب خیلُ اللاّتِ خَيْلَ مُحَمَّدِ

قسم دی ستا په ژوند باندی ربښتیا هم په کومه ورځ چې ما بیرغ ددی لپاره پورته کوی چې دلات لښکر د محمدﷺ په لښکر باندی بری پیدا کی .

اناکالمدلج الحیران اظلم لیلهُ .... فهذا اوانی حین أُهدَی وَاهتدَی

په هغه ورځ زه دتوری شپې دمسافر په څیر حیران او غمجن وم او اوس داللهﷻ په ستایلو سره دا هغه وخت دی چې داللهﷻ له لوری ماته لاربښودنه کیږی او لار پیدا کوم

او له دې پرته یې نور شعرونه هم په عذر کې وویل (سیرة ابن هشام جلد ۴ /ص/ ۴۳)

اوعبدالله بن ابی امیه ﷺ داسلام راوړلو څخه وروسته داسی وو چې دډیری حیاء له کبله یې رسول اللهﷺ ته پورته نه کتل رسول اللهﷺ چې کله له مدینی منوری څخه روان سوی وو په دغه وخت کې دده ﷺ او صحابه کرام ﷺ روژه وه ، کله چې دکدید په نامه ځای (۱) ته ورسیدل دصحابه ﷺ دتکلیف له امله یې روژه ماته کړه صحابه کرام ﷺ هم درسول اللهﷺ په پیروی روژی ماتی کړی (بخاری شریف) ځکه یو خو سفر په خپله ستړیا او تکلیف دی او بیا هغه سفر چې دجهاد لپاره وو او موسم هم ډیر ګرم وو ځکه یې روژه ماته کړه ځکه که روژه نه کی ماته نود کمزوری او نه توان له کبله دجهاد فی سبیل الله فریضه نه سی اداکولای او په حدیث شریف کې راغلی دی (لیس من البر الصیام فی السفر) په سفر کې روژه نیول نیکی نه ده او که دجهاد سفر نه وی یا په سفر کې څه خاص تکلیف نه وی نو بیا روژه نه ماتول غوره دی ځکه درمضان دروژی قضاء که څه هم راوړل کیږی مګر درمضان انوار او تجلیات او دملائکه وو اسمان ته ختل او کښته کیدل او دشیطانانو په ښنو کی

سیف لودین کتابتون

دزنځیرونو اچول او دجنت او درحمت دورازی خلاصیدل او دجهنم دروازی بندیدل او دالله ﷻ دکتاب شپه او ورځ تلاوت او دملائکه وو دذکرتړلی. او دتسبیح او تهلیل مجلسونه او دقرآن دتلاوت محفلونه پیدا کول له روژی پرته په بله میاشت کی نه سی کیدای په دی وجه الله تعالی فرمایلی دی (وان تصوموا خیرلکم) یعنی مریض او مسافرکه روژه ونیسی دده لپاره غوره دی که څه هم ماتول خوورته روادی مګرروژه نیول ښه او غوره دی او همدا دامام ابوحنیفة النعمان رحمه الله مذهب هم دی چی په سفرکې روژه نیول غوره دی دمکی دفتح په نیت چی لس زره کسیز لښکرسفرکوی هغوئ دجهاد فی سبیل الله او دالله ﷻ ددین دپورته کولو په نیت وو ددی لپاره خولمونځ هم وروسته کیدای سی چی ترروژه ډیرغوره دی او ددین ستن ده او ترایمان وروسته ترټولو غوره شئ لمونځ دی ځکه په جهاد کی دروژی ماتول غوره دی دالله ﷻ په لارکی قربانی او سرورکولو دپاره وتل داهغه نعمت دی چی ودې ته داسمان او ځمکی ملائکه وی حیرانیږی په داسی حالت کی دروژي ماتولو سره که څه هم دتسبیح او تهلیل او حمد او دملائکه وو دراکښته کیدو په برکاتو سره ګټه اخیستل له لاسه وزی مګر دالله ﷻ په لارکې دقربانی. لپاره په مینه سره سهار او ماښام تللوکی دنژدیکت په زرهاوونه بلکی په سلهاوو زره مرتبی لاس ته راځي که زرکاله پرلپسی تسبیح او تهلیل کوی نو دالله ﷻ دنژدیکت دامرتبه هغه ته په لاس نه ورځی کوم چی دجهاد په یو څوګامه کی په لاس راځي په ښکاره خو اووه میله مزل وو مګر په حقیقت کې داوو ۷ اسمانو ته پورته ورسیدل دوئ ببر سرونه لوڅي پښې په خپل خواره بدن چی دجنت په بدل کې یې پرالله ﷻ باندی خرڅ کړی وو دوئ الله تعالی ته دمبیع دسپارلو لپاره روان وو ددې دپاره چی ژر ژر ددې رانیونکي (الله تعالی) ته خپل مبیع وسپاری او خپل قیمت (یعنی جنت) وصول کی هسی نه چی کوم قاتل (یعنی شیطان) ودې بیع ته څه زیان ورسوی او له الله ﷻ سره سوی سودا فسخ نه کړی داسمان او ځمکی ملائکی دحیرت په سترګو مجاهد ته ګوری ..

اسلامی لښکر په مرالظهران کی پړاو واچوی !

له کدیده چی کله روان سو دماخستن وخت وو رسول الله ﷺ مرّ الظهران ته ورسیدی او همدلته یې پړاو واچوی او لښکرته یې حکم وکی چی هرسړی دی دخپلی خیمی مخ ته اوربل کی دعربو دپخوانی دودوو چی په لښکربه یې اوربلوی دهغه رسم موافق رسول الله ﷺ داحکم وی ،

له بل لوری قریش دپریکړی پر ماتولو پښیمانه وو او داېي ویل چی معلومه نه ده چی رسول الله ﷺ به کله په موږ باندی برید کوی ، ابوسفیان بن حرب او بدیل بن ورقاء او حکیم ، دحالاتو دجاج اخیستلو لپاره له مکی راووتل کله چی یې مرالظهران ته وکتل او اورونه یې ولیدل وییریدل ابوسفیان وویل چی دا اورڅنګه بل دی ، بدیل وویل دا اور دخزاعه قبیلی دی ابوسفیان وویل له خزاعه سره دومره لښکرله کومه ځایه راغلی دوئ خو ډیرلږ دی

سیف لودین کتابتون

دوئ په همدی خبروبوخت وو چی درسول اللهﷺ سپاهیانو ولیدل سمدستی یې ګیر کړه دوئ له یوه سپاهی ځخه پوښتنه وکړه تاسوڅوک یاست؟ ده ورته ویل موږ مسلمانان اودرسول اللهﷺ ملګری یو دوئ په دی خبروکی وو چی عباس ﷛ درسول اللهﷺ پرقچره سپوروو اوګبنت یې کوی کله چی رانژدی سونود ابوسفیان غږیې وپیژندی ورته وې ویل افسوز دی اې ابوسفیان دادی درسول اللهﷺ لښکرراورسیدی قسم په الله ﷻ که په تاسو کامیاب سو نوستاسربه پریکی اودقریشوپه دی کې خیردی چی له رسول اللهﷺ ځخه دامن غوښتنه وکړی اودهغه مبارک خبره ومنی؟ ابوسفیان وایې ماچی کله دغږ واوریدی نوهغه خواته می دتلوغوښتنه وکړه کله چی عباس ﷛ ته ورسیدم ورته ومی اې ابوالفضل ﷛ زمامور اوپلاردی ترتاقربان وی دخلاصون ځه صورت سته؟ عباس ﷛ وویل زماشاته پردی قچره باندی سپورسه، زه دی درسول اللهﷺ په خدمت کې حاضروم ددی لپاره چی ستالپاره امن وغواړم عباس ﷛ له ځان سره کړم موږ په اسلامی لښکرتیریدو یوځای دعمر ﷛ په څنګ کی تیرسو عمر ﷛ چی کله زه ولیدم نوراپسی راغلی اووی ویل دادی دالله ﷻ دښمن دادی درسول اللهﷺ دښمن ابوسفیان راغلی الحمد لله چی الله ﷻ پرته له څه لوظ اوژمنی په لاس راکی عمرفاروق ﷛ پلی روان وو زه اوعباس ﷛ په قچره سپاره وو موږ ډیرپه تیزی سره رسول اللهﷺ ته ورسیدو عمر ﷛ هم توره په لاس راغلی اودرسول اللهﷺ څنګ ته ودریدی اوغوښتنه یې وکړه چی یارسول اللهﷺ دادی دالله ﷻ دښمن اودهغه درسولﷺ دښمن ابوسفیان الحمد لله پرته له څه ژمنی نن په لاس راغلی دی ماته اجازه راکړه چی اوس دستی دده سرله تنه بیل کړم، عباس ﷛ وویل یارسول اللهﷺ مادته پناه ورکړی ده خوعمرفاروق ﷛ توره په لاس ولاړدی اوبیابیاداغوښتنه کوی اودرسول اللهﷺ دحکم انتظارکوی عباس ﷛ په زوره وویل اې عمر ﷛ لږ ودریږه که ابوسفیان له بنوعدی قبیلی ځخه وای نوتابه دده پروژلودومره ټینګارنه کوی خوته په دی ښه خبریې چی دئ دبنی عبدمناف ځخه دی ځکه دده په وژلوباندی ټینګارکوی، عمر ﷛ وویل اې عباس ﷛ قسم په الله ماته ستااسلام دخپل پلارخطاب تراسلام ډیرمحبوب وو اوکه زماپلاراسلام راوړی وای نوزه به دومره نه وم خوشحاله لکه ستاپه اسلام راوړلو چی خوشاله سوم ځکه زه ښه پوهیدم چی رسول اللهﷺ ستاپه اسلام دخطاب تراسلام راوړلو ډیرخوښ وو ستاپه اړه خوزمادافکردی اوته چی څه ګمان کوی کوه یې، رسول اللهﷺ عباس ﷛ ته حکم وکی چی ابوسفیان خپلی خیمی ته بوزه اوسهاریې ماته راوله ابوسفیان ټوله شپه دعباس ﷛ په خیمه کې وو اوحکیم بن حزام اوبدیل بن ورقاء هم په همدی وخت کې درسول اللهﷺ په خدمت کې حاضرسو اوپه اسلام مشرف سود شپی ترڅه وخت رسول اللهﷺ له دوئ ځخه دمکی دحالاتوپوښتنی کولی خووروسته بیادوئ دواړه مکی ته ولاړل ددی لپاره چی قریش درسول اللهﷺ په راتګ خبرکې..

سیف لودین کتابتون

ابوسفیان بن حرب اسلام راوړی !

کله چی سهارسو عباس رضی الله عنه ابوسفیان له ځان سره ملګری کی اودرسول الله ﷺ په خذمت کې حاضرسو رسول الله ﷺ ابوسفیان ته وکتل اووې فرمایل : افسوز اې ابوسفیان آیا اوس ددی وخت نه دی راغلی چی ته یقین وکوی چی (لااله الاالله) چی له الله جل جلاله پرته بل هیڅوک دبندګۍ لائق نسته ؟ ابوسفیان ویل زماموراوپلاردی په تاقربان سی رښتیاهم ته ډیر صبرناک اوعزتمنداوډیرخپلوی پالونکی یې قسم په الله جل جلاله که له الله جل جلاله پرته بل څوک دعبادت اوبندګی لائق وای نونن به موړته په ښه راغلی وو اوستاپه مقابله کې به موله هغه مرسته غوښتی وای ،، رسول الله ﷺ ورته وایې اې ابوسفیان آیااوس ددی وخت نه دی چی مادالله جل جلاله رسول جل جلاله ومنی ؟ ابوسفیان وایې زماموراوپلاردی په تاقربان سی رښتیاهم ته ډیرصبرناک اوعزتمنداوترټولوډیر خپلوی پالونکي یې ته مهربانی کونکی یې اوزماله دښمنی سره سره ته په مامهربانی کوی زماپه دی کی یوزره شک هم نسته چی ته دالله رسول ﷺ یې ..

وروسته دعباس رضی الله عنه په لار ښودنه ابوسفیان اسلام ومنی دابوسفیان له مسلمانیدو وروسته عباس رضی الله عنه غوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ ابوسفیان دمکی له مشرانوسردارانوڅخه دی فخرخوښوی که ته دده لپاره یوځانګړی کار وټاکی چی دده دعزت اوشرافت باعث اودبیلوالی سبب وی ، رسول الله ﷺ وفرمایل :صحی ده اعلان وکوی چی څوک دابوسفیان کورته داخل سوهغه به په امن وی ، ابوسفیان وویل یارسول الله ﷺ زماپه کورکې خوټول خلک نه ځاییږی ، رسول الله ﷺ وفرمایل اوڅوک چی مسجدحرام ته داخل سو هغه به هم په امن وی ، ا بوسفیان وویل یارسول الله ﷺ په مسجدحرام کی هم نه ځایږی ، رسول الله ﷺ وفرمایل څوک چی خپله دروازه بنده کی هغه به هم په امن وی ابوسفیان وویل هوپه دې کې ډیره فراخی ده اوډیرخلک به خوندی سی تردی وروسته چی کله رسو ل الله ﷺ له مرالظهران څخه روان سوعباس رضی الله عنه ته یې حکم وکی چی ابوسفیان له ځان سره ملګری که اوغره ته وخیژی ددی لپاره چی اسلامی فوځ ښه ووینی دوئ دواړه ولاړو دغره په یوه څوکه کی ودریدل چی دلښکرلاره هم وه کله چی اسلامی لښکر جوفی جوفی تیریدی ابوسفیان حیران پاته سووې ویل اې عباس رضی الله عنه ستادوراره پاچهی خوډیره فراخه سوه عباس رضی الله عنه ورته وویل داپاچهی نه ده بلکې نبوت دی یعنی لکه د داؤد علیه السلام اوسلیمان علیه السلام چی په ظاهره دپاچهی شان وو خوپه معنی اوحقیقت کی نبوت وو ځکه هغه دعات خلاف په عجیبه طریقه وو په ظاهری اسبابو اومادیاتوباندی نه وو بناء نه هوایې الوتکی ورسره وی اونه دهغه تخت په مادی اوکسبی زور سره الوتی دسلیمان علیه السلام تخت پرته له کوم مادی اوظاهری سبب دعادت خلاف په هواکی الوتی چی همدادهغه دنبوت معجزه وه ددی لپاره چی ددنیاپاچهان خپل مادی طاقت ددی عینی طاقت په مقابله کی هیڅ وګڼی اودالله جل جلاله نبی علیه السلام ته غاړه کیږدی

سيف لودين كتابتون

دغه شان د رسو ل الله ﷺ هم همدا شان او شوکت وو چې په ظاهره پاچهی معلومیږی خو په حقیقت کې نبوت او پیغمبری ده

کومه قبیله چې به تیریدله ابوسفیان به پوښتنه کوله چې دا څوک دی تر ټولو مخکې د خالدبن ولید ؓ زر کسیزه ګروف تیر سو ترده وروسته نوری مختلفی ټولی تیری سوی تردی چې په پای کې رسول الله ﷺ د مهاجرینو او انصارو ؓ په وسلوال او زغره لرونکی ډله کې ښکاره سو د مهاجرینو بیرغ زبیر ؓ پورته کړی وو او د انصارو ؓ بیرغ د سعدبن عباده ؓ په لاس کی وو سعدبن عباده ؓ چې کله دوئ ته رانژدی سو ابوسفیان یې ولیدی په رګوکې یه وینه په جوش سوه داسی یې وویل (اليوم يوم الملحمه اليوم تستحل الكعبة) نن ورځ د جنګ ده نن ورځ به په کعبه کی وینی تویدل رواوی ..

ابوسفیان په ویره وپوښتل چې دا خلک څوک دی ؟ عباس ؓ وویل چې دا د مهاجرین او انصارو ؓ لښکر دی او په دې ټولګې کې رسو ل الله صلی الله علیه وسلم همدی ، رسول الله ﷺ چې کله د دوئ مخ ته تیریدی ابوسفیان ورته وویل یارسول الله ﷺ آیاتا سعدبن عباده ؓ ته د خپلو خپلوانو د وژلو حکم کړی دی د سعد ؓ خبره یې ورته یاده کړه او غوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ زه تاته الله ﷻ او خپله خپلوی وراندی کوم چې په نیکی او خپلوی کې ته ترهرچا ډیر غوره یې ؟ رسول الله ﷺ په ځواب کې ورته وفرمایل :

(ياأباسفيان اليوم يوم المرحمه يعزالله فيه قريشاً) اې ابوسفیان نن ورځ د مهربانۍ ورځ ده الله تعالی به په دی ورځ کې قریشو ته عزت ورکړی ،، او د بخاری په روایت کې راغلی دی چې داسی یې وفرمایل (كذب سعد ولكن هذايوم يعظم الله فيه الكعبة ويوم تكسى فيه الكعبة) سعد ؓ غلط ویلی دی نن د کعبی د عزت ورځ ده او کعبی شریفی ته به پوښ اغوستل کیږی ،،، تردی وینا وروسته یې امرو کې چې بیرغ دی له سعدبن عباده ؓ څخه واخیستل سی (۱) او د هغه زوی قیس ؓ ته دی ورکړل سی ،،، او د ابن عساکر په روایت کې راغلی دی چې کله رسول الله ﷺ تیریدی نو د قریشو یوی ښځې داسی شعرونه ویل :

يانبي الهدى اليک الرجا...... حیّ قريش ولات حين الجاء حين

اې د سمی لاری لاربنوده قریشو تاته پناه دروړی ده او سره له دی چې داوخت د پناه نه دی

ضاقت عليهم سعة الارض .... وعاداهم اله السماء

کله چې فراخه ځمکه پر دوئ تنګه سوه او د ځمکو او اسمانو مالک د دوئ دښمن سو

سعدايريد قاصمة الظهر .... باهل الجحون والبطحاء

رښتیا سعدبن عباده ؓ د جحون او بطحاء د خلکو ملا ماتول غواړی

تردی وروسته ابوسفیان له رسول الله ﷺ څخه رخصت سو او په ډیره چټکی سره مکی ته

---

(۱) له سعد ؓ له ژبی د جذبی په وجه دا لفظ ووتی چې هغه مناسب نه وو ځکه رسول الله ﷺ بیرغ د ده لاس واخیستی مګر د ده د نه خفه کیدو لپاره یې د ده زوی ته ورکی په ښکار خویې ځنی واخیستی خو په حقیقت کې بیرته د ته ورکړل سو لکه څومره چې خطا وه هغومره خبرداری وو له کل څخه یې واخیسته او جزء ته یې ورکه او جزء له کله نه سی بیلیدای (، منه عفاعنه)

سیف لودین کتابتون

محمد صلی الله علیه وسلم له فوځ سره را روان ولاړی او په لوړ آواز یې دا اعلان وکی چې دی زما په خیال د هیڅ توان نسته چې د هغه مخنیوی وکي اسلام راوړی خوندی به سی خو که څوک اسلام نه راوړی نو دادر ته وایم چې څوک مسجد حرام ته داخل سی هغه ته امن دی یا زما په کورکې پناه واخلی هغه ته امن دی او یا خپله دروازه په ځان پسی بنده کی هغه ته امن او که څوک سلاح پر ځمکه کیږدی هغه ته امن دی له بل لوری د ابو سفیان ښځه هنده راغله ابوسفیان یې تربریتوونیوی ورته وې ویل چې اې بنی کنانه ، دا سپین ږیری خوپا ګل سوی دی نه پوهیږی چې څه وایې او ډیری ناوړه خبری یې وکی قریش ټول سره راټول سوه ابوسفیان وویل اوس دخبرو وخت نه دی په خبرو هیڅ نه کیږی اې خلکو تا سو زما د ښځی په خبرو مه غولیږی ځکه هیڅوک د محمد ﷺ مخنیوی نه سی کولای څوک چې مسجد حرام ته داخل سی هغه ته امن دی او څوک چې زما کورته داخل سی هغه ته هم امن دی قریش ورته وویل اې کمبخت الله ﷻ دی تا هلاک کی ستا په کورکې به څومره خلک ځای سی ، ابوسفیان وویل چې څوک د خپل کور دروازه بنده کي هغه ته هم امن دی ، ابوسفیان خپلی ښځی هندی ته وویل چې خیر په دی کی دی چې ته اسلام ومنی که دا سی ونه کی مرګ به دې میلمه سی څه ولاړه سه او د خپل کور دروازه په ځان پسی بنده کړه او کښینه زه رښتیا وایم پاګل نه یم قریشو چې کله د ابوسفیان خبری واوریدی ټول وتښتیدل څوک مسجد حرام ته داخل سو او څوک خپلو کوروته ولاړو ..

اسلامی لښکر مکی مکرمی ته د داخلیدو په حال کی د هجرت اتم کال دروژی شلمه !

رسول الله ﷺ د کداء له لوری و مکی مکرمی ته داخل سو او مکی ته د داخلیدو په وخت کې رسول الله ﷺ دالله ﷻ د کعبی د درناوی او احترام ډیر خیال وساتی په ډیره عاجزی یې سر ټیټ کړی وو او داخل سو د پاچا په شیرنه سو داخل ،، په صحیح بخاری کې له عبدالله بن مغفل ؓ څخه روایت دی چې ما د مکی د فتح په ورځ رسول الله ﷺ ولیدی چې په اوښه باندی سپور دی او په خواږه آواز سره سورة الفتح لولی)

د الله ﷻ په دی لوی بریالیتوب دخوشالی او تازه والی او فراخی له اثارو سره سره دربارکی دخشوع او عاجزی آثارهم د رسول الله ﷺ په روښانه مخ باندی ځلیدل په اوښه باندی سپورووه د عاجزی له کبله یې سر دومره ټیټ کړی وو چې ویښتان مبارک یې د کجاوی له لرګی سره موښلیدل (رواه ابن اسحق مرسلاً) او د رسول الله ﷺ خادم او دخادم زوی اسامه بن زید ؓ له شا و رپسی سپورووه (بخاری شریف)

انس ؓ روایت کوی چې کله رسول الله ﷺ مکی ته بریالی داخل سو نو ټولو خلکو رسول الله ﷺ ته کتل مګر رسول الله ﷺ د عاجزی په وجه سر ښکته اچولی وو (رواه الحاکم بسند جید)

په معجم طبرانی کې له ابو سعید خدری ؓ څخه روایت دی چې د مکی د فتح په ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل چې دا هغه ورځ ده چې الله تعالی له ما سره ژمنه کړی وه او ویې یې دا سورة تلاوت کی (إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ ،، زرقانی جلد۲/ص/۳۲۰)

درسول الله ﷺ فکر په دې کې وو چې یو وخت زه له دې ښاره په ناوسی سره ووتم او په پټه له دښمنانو په پټو لارو ولاړم او س بیا داسې وخت راغلی چې دالله تعالی په مرسته او نصرت سره زه وهمدې ښارته په ډېر عزت او دبدبه بریالی داخلیږم (وذلک فضل الله یؤتیه من یشاء) له دې کبله رسول الله ﷺ سرمبارک ښکته اچولی وو او داوښې په پالانه یې کیښودی او دشکر سجده یې آدا کړه او دخوشالی په جذبه کې په خواږه آواز انافتحنا او اذاجار نصرالله سورتونه لوستل چې رښتیا دالوی بریالیتوب او ښکاره فتح او دافتح او بریالیتوب او عزت او عظمت خاص دالله تعالی فضل او انعام دی چې حق برلاسی او باطل سرټیټی سو داسلام او ایمان رڼا وځلیده او دکفرتیارې لیرې سوې او دحرم ځمکه دکفراو شرک له مردارې پاکه سوه ، رسول الله ﷺ دکداء له لورې په لوړه خواتیرسو او مکې مکرمې ته داخل سو او خالدبن ولید ؓ ته یې دښکته طرف دمکې دګډې له خوا دداخلیدو حکم وکي او زبیر ؓ ته یې دلوړې خوایعنې دکداء (۱) له خوا دداخلیدو حکم وکي او داټینګاریې وکې چې تاسو په خپله جګړه مه پیل کوی که پر تاسو برید وسو نو یواځې له هغو خلکو سره جنګیږی وروسته ډېر په درناوی او عزت مکې ته داخل سو کله چې رسول الله ﷺ مکې ته داخل سو نولومړی یې دام هانئ بنت ابی طالب کورته تشریف یوړی او دغسل کولو روسته یې اته رکعته لمونځ وکی داد څاښت وخت وو (بخاری)

دفقهاء په اصطلاح کې ودې لمانځه ته صلوة الفتح وایې او داسلامی امیرانو داطریقه پاته سوې ده چې کله به یې یو ښار فتح کې نو دفتح په شکر کې به یې اته رکعته لمونځ کوی ، سعدبن ابی وقاص ؓ چې کله مدائن ښار فتح کې او دکسری ماڼې ته داخل سو نواته رکعته لمونځ یې په یوه سلام آداء کي (روض الانف جلد ۲ /ص / ۳۷۳) غالباً په دې وجه به امام ابوحنیفه رحمه الله داخبره کړې وی چې تراته رکعته زیات لمونځ په یوه سلام سره کول مکروه دی ، ام هانئ رسول الله ﷺ ته وویل یارسول الله ﷺ زمادخاوند دوه خپلوان په تیښته زماکورته راغلی دی دوئ ته ماپناه ورکړې ده خوزماورور علی ؓ ددوئ وژل غواړې ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : چاته چې ام هانئ پناه ورکړې ده هغوئ ته موږ هم پناه ورکړې ده علی ؓ ته په کار دی چې هغه نه ووژنی (البدایه والنهایه ج /۴ /ص /۲۹۹ ،، ۳۰۰)

---

(۱) کداء دکاف په زبرسره او الف مدلرې دمکې لوړ طرف ته وایې او ګدې دکاف په پیښ او الف په صورت دیاء مقصوره دی مکې لاندې خواته وایې کداء هغه ځای دی چې ابراهیم ؑ پردریدلی او ټولو خلکو ته یې دحج بلنه ورکړې وه لکه چې الله تعالی فرمایې ﴿وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ﴾ (۲۷) (سورة الحج) ژباړه : خلکو ته دحج اعلان وکړه راځی به تاته پښې لوڅی او په خوارو اوښانو به له لیرې لیرې ځایو ...

او پر همدې ځای یې دخپل اولاد لپاره دعاء کړې ده چې هغه قبوله سوې هم ده دعاء داسې ده ﴿رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ﴾ (۳۷) سورة ابراهیم) ژباړه : اې ربه ماخپل یو شمیر اولادونه په داسې میدان کې میشت کړه چې هلته دښو شیانو هیڅ نوم او نښان نسته ستاکورته نژدې اې ربه ددې لپاره چې لمنځونه آداکی او دخلکو زړونه دوئ ته میلان وکړی او دوئ ته میوې ورکړې چې ستادنعمتو شکرادا کی ، رسول الله ﷺ په مکه مکرمه ځکه له لوړې داخل سو ځکه له هغه ځایه دنبی کریم ﷺ نیکه او دمکې جوړونکی له الله تعالی دعاغوښتې وه (روض الانف جلد ۲ /ص / ۲۷۰)

سیف لودین کتابتون

نبی کریم ﷺ چې کله له لمانځه خلاص سو نوشعب ابی طالب ته ولاړی هتله د رسول الله ﷺ لپاره خیمه درول سوی وه صحابه کرامو ؓ مکې ته ترداخلیدو یوه ورځ مخکې له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل چې ته د مکې په کوم ځای کې اوسیږې رسول الله ﷺ وفرمایل چیری چې قریشو او بنی کنانه ، بنوهاشم او بنوالمطلب ایسارکړی وو او په خپل مینځ کې داپریکړه او قسم کړی وو چې له بنی هاشم او بنی المطلب سره به نه پیرل او پلورل کوو او نه به نکاح ورسره کوو ټولی اړیکی به ورسره شلوو ترڅو چې محمدصلی الله علیه وسلم موږ ته ونه سپاری ، ودې ځای ته شعب ابی طالب وایې (۱)

په صحیح مسلم کې له ابوهریرة ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ انصار ؓ راوغوښتل ورته وې فرمایل چې قریشو ستاسو د مقابلې لپاره دشاوخوا صحرایان راټول کړی دی هغوئ که جګړه وکه نو دوئ د فصل په څیر وریبی ،،، صفوان بن امیه ، او عکرمة بن ابی جهل او سهیل بن عمرو په خندمه په نامه ځای کې د جګړې لپاره څه کوچیان رایوځای کړل او پرخالدبن ولید ؓ یې بریدوکې له مسلمانانو څخه دوه تنه شهیدان سو خنیس بن خالدبن ربیعه ؓ او کرزبن جابرفهری ؓ او له مشرکینو څخه دوولس یا دیارلس تنه ووژل سو نور ټول وتښتیدل دا د ابن اسحق روایت دی (۲)

او د موسی بن عقبه په مغازی کې راغلی دی چې خالدبن ولید ؓ چې کله مکې ته له لاندی خوا داخل سو نو د بنوبکر قبیلی او بنوحارث بن عبدمناف او څه خلک د هذیل قبیلې او څه کوچیان قریشو د جګړې لپاره رایوځای کړی وو خود خالدبن ولید ؓ په لیدلوسره د هغوز ړونه مات سو کله چې دوئ جګړه پیل که نو توان یې نه وو ماته یې وخوړه او وتښتیدل د بنوبکرقبیلې تقریباشل کسان او د هذیل څخه درې یا څلور ووژل سو نور ټول وتښتیدل څوک په کورونو ننوتل پټ سو او څوک وغروته وختل ،، ابوسفیان په زوره وویل څوک چې خپله دروازه بنده کی هغه په امن دی ،، رسول الله ﷺ د تورو رڼا ولیده سمدستی یې خالدبن ولید ؓ راوغوښتی وې فرمایل چې دا څه خبره ده ماخو تاسو له جنګه منع کړی واست ، خالد ؓ وویل یارسول الله ﷺ موږ د جنګ پیل نه دی کړی ماخپل لاس ډیرخوندی وساتی کله چې مجبورسوم او توری پرموږ ولګیدی ترهغه وروسته می جګړه وکړه رسول الله ﷺ وفرمایل (قضاء الله خیر) الله تعالی چې څه پریکړه کړی وی په هغې کی خیردی (۳) وروسته امن پرځای سو او خلکوته امن ورکړل سو او خلک ډاډه سو فتح پوره سوه نو رسول الله ﷺ مسجدحرام ته داخل سو ..

---

(۱) زرقانی جلد ۲ /ص/ ۳۲۴ ، فتح الباری جلد ۸ /ص/ ۱۶)

(۲) ددې روایت په بنیاد باندی د مشرکینو څخه یوائې دیارلس تنه وژل سوی دی او د موسی بن عقبه او ابن سعد او واقدی له روایته معلومیږی چې درویشت یا څلیرویشت تنه وژل سوی دی او همدا روایت ډیر مستند دی او له ډیرسره ضدنه دی کیدای سی چې د مړو شمیر ټول څلیرویشت وی او یوائې د خندمه په نامه ځای کې دولس یا دیارلس تنه وژل سوی وی او نور مشرکین بیا په بل ځای کې وژل سوی وی ، والله سبحانه وتعالی اعلم ..

(۳) فتح الباری جلد ۸ /ص/ ۹)

سیف لودین کتابتون

تر فتح وروسته رسول الله ﷺ مسجد حرام ته داخل سو !

تر فتح وروسته رسول الله ﷺ مسجد حرام ته داخل سو او پر کعبه شريفه يې طواف وکي په دلائل بيهقی او دلائل ابی نعيم کې له عبدالله ابن عمر ؓ څخه روايت دی چی رسول الله ﷺ چی کله حرم ته داخل سو نو د کعبی شاوخوا درې سوه شپيته بتان اېښول سوی وو ، رسول الله ﷺ به هر يوه يوه بت ته په لکړه اشاره کوله او دا به يې فرمايل (جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ) بت به پر مخی ښکته رالويدی ،، امام بيهقی وايې چی دابن عمر ؓ حديث که څه هم ضعيف دی مګر دابن عباس ؓ حديث دده تائيد کوی (۱)

حافظ عسقلانی فرمايې چی ابن حبان دعبدالله بن عمر ؓ حديث ته صحيح ويلی دی (۲)

حافظ هيثمی وايې چی دابن عباس ؓ حديث طبرانی روايت کړی دی چی دهغه ټول راويان ثقه دی او دا حديث بزار هم په لنډه ول روايت کړی دی (۳)

دابن اسحق او ابراهيم په روايت کی راځی چی دا بتان له پخی ختمی جوړ سوی وو نه له ژړو (۴) په دی اړه تميم بن اسد خزاعی ويلی دی

(وفی الاصنام معتبر وعلم ، لمن يرجو الثواب أو العقابا) (۵)

کله چی رسول الله ﷺ حرم ته داخل سو نو په دغه وخت کې په اوښه سپور وو او په همدغه حالت کی يې طواف وکي له طواف کولو چی کله خلاص سو نو عثمان بن طلحه يې راوغوښتی او دکعبی شريفی دخونی کليانی يې ځنی واخيستی او بيت الله شريفه يې خلاصه که په بيت الله شريفه کې دننه انځورونه وو دهغه ټولو دخرابولو حکم يې وکی ، کله چی ټول انځورونه خراب سو او دزمزم په اوبو بيت الله شريف پريولل سوه تر هغه وروسته رسول الله ﷺ بيت الله شريف ته ننوتی او لمونځ يې آداء کی او دبيت الله شريف په ټولو کونجانو کی وګرزيدی او دتوحيد او تکبير په آواز و يې هغه روښانه کړه په دغه وخت کې بلال ؓ او اسامه ؓ له رسول الله ﷺ سره وو کله چی خلاص سو دروازه يې خلاصه کړه او دباندی راووتل کله چی دوئ دباندی راووتل مسجد حرام له خلکو ډک دی او خلک ټول په انتظار دی چی دمجرمانو او دښمنانو په اړه به څه پريکړه کيږی داورځ دهجرت اتم کال وو او دروژی مبارکی شلمه وه دکعبی په دروازه باندی رسول الله ﷺ ودريدی او دکعبی شريف کليانی دده مبارک په لاس کی وی دکعبه شريفی پر دروازه يې داسی خطبه ولوستله :

---

(۱) الخصائص الکبری جلد ۱ /ص / ۲۶۴)
(۲) مجمع الزوائد جلد ۶ /ص / ۱۷۶)
(۳) زرقانی جلد ۲ /ص / ۳۳۴)
(۴) البدايه والنهايه جلد ۴ /ص / ۳۰۲)
(۵) زرقانی جلد ۲ /ص / ۳۳۶)

سيف لودين كتابتون

دبیت الله شریف پر دروازه باندی رسول الله ﷺ داسی خطبه ولوسته :

لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِیْکَ لَهٗ صَدَقَ وَعْدَهٗ وَنَصَرَ عَبْدَهٗ وَهَزَمَ الْاَحْزَابَ وَحْدَهٗ ، اَلَاکُلُّ مَاْثَرَة اودم اومال یدعی فهوتحت قدمی هاتین الاسدانة البیت وسقایة الحاج الاوقتیل الخطاء شبهة العمد بالسوط والعصا ففیه الدیة مغلظة من الابل اربعون منها فی بطونها اولادُها یامعشر قریش ان الله قداذهب عنکم نخوة الجاهلیة وتعظمها بالاباء . الناس من آدم وادم من تراب ثم تلاهذه الآیة ﴿یَا اَیُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنَاکُمْ مِّنْ ذَکَرٍ وَّاُنْثٰی وَجَعَلْنَاکُمْ شُعُوْباً وَّقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَ اللهِ اَتْقَاکُمْ اِنَّ اللهَ عَلِیْمٌ خَبِیْرٌ﴾ (۱۳آیت سورة حجرات) ثم قال یامعشر قریش ماترون انی فاعل بکم قالوا خیرا اخ کریم (۱) وابن اخ کریم قال فانی اقولوا لکم کماقال یوسف لاخوته لاتثریب علیکم الیوم اذهبوا فانتم الطلقاء (زادالمعاد وسیرة ابن هشام وزرقانی والبدایه والنهایه جلد۴/ص/۲۰۰...۳۰۱)

ژباړه : له الله ﷻ پرته هیڅوک دبندګۍ وړ نسته هغه خپله ژمنه پوره که دخپل بنده مرسته یې وکړه اودد ښمنانو ټولوډلوته یې یوائی ماته ورکړه ، پام کوی هرخوی اوعادت که بدنی اوکه مالی وی چی دهغه غوښتنه کیږی هغه ټول زماترپښولاندی دی هغه ټول لغوه اوباطل دی مګر دبیت الله شریف چوکیداری اوحاجیانوته دزمزم اوبه ورکول داټول کارونه به په خپل ځای پاته وی اوپه دی خبرسی ځوک چی په خطاء سره ووژل سی په لکړه یادره سره دهغه دیت سخت دی سل اوښان دی چی په هغوکی به څلویښت باروړونکی اوښانی وی ای قریشو الله ﷻ دجاهلیت غرور اوتکبراوپه پلرو اونیکه ګانو فخرکول لغوه اوناروادی خلک دآدم علیه السلام څخه پیدادی اوآدم علیه السلام له خاوری جوړسوی دی تردی وروسته یې داآیت تلاوت کی ، ای خلکو موږ تاسوله نارینه اوښځي پیداکړی یاست اوتاسوموپه قوموا وقبیلوویشلی یاست ددی لپاره چی په خپل مینځ کی سره وپیژنی اوپه تاسوکې ترټولوغوره دالله ﷻ په نزدهغه څوک دی چی ډیر پرهیزګاره وی الله تعالی صابراوخبیرذات دی ، وروسته یې وفرمایل ای قریشو ستاسوزماپه اړه څه فکردی چی زه به لتاسوسره څه چلندوکړم ؟ (۱) خلکوویل دنیکۍ ګمان مودی ته زموږعزتمند وروریې اودعزتمندورور زوی یې رسول الله ﷺ وفرمایل زه تاسوته هغه وایم کوم چی یوسف علیه السلام خپلوورونوته ویلی دی چی پرتاسونن ملامتی نسته ځي تاسوټول آزادیاست ،

په عربوکی په خپل نسب فخر اولوییی دودجوړسوی وو رسول الله ﷺ په دی خطبه کی هغه پای ته ورسوی اودا اسلامی برابری بیرغ یې ودروی اودایې وښودل چی دشرافت اوعزت بنیادیوائی تقوی اوپرهیزګاری ده رسول الله ﷺ رحمة للعالمین دی دټولی دنیادلارښودنی لپاره رالیږل سوی دی دهغه هدف لارښودنه ده ددښمنانوڅخه بدله اخیستل دپاچهانوکاردی نه دانبیاء علیهم السلام ..

(۱) ددې خبری کونکی سهیل بن عمروو داهغه څوک دی چی دحدیبیه په سوله کې یې شرطونه ایښی وو وروسته په اسلام مشرف سوکله چی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ای قریشوستاسوزماپه اړه څه فکردی سهیل بن عمرو ترټولومخکی وویل (نقولوا خیراونظن خیراً اخ کریم وابن اخ کریم وقدقدرت) زموږدخیرګمان لرو ته عزتمنداودعزتمندزوی یې اوپه بدله

سیف لودین کتابتون

حجابت اوسقایت : یعنی حاجیانوته دزمزم اوبه ورکول اودکعبه شریف کلیانی

رسول الله ﷺ چی کله له خطبی ویلو خلاص سو نوپه مسجد حرام کی کښېنستی اودبیت الله شریف کلیانی دهغه په لاس مبارک کی وی علی ﷺ (۱) ولاړسو اوغوښتنه یې وکړه چی یارسول الله ﷺ کلیانی موږته راکه ددی لپاره چی دزمزم داوبوورکولو (۲) اودبیت الله شریف چوکیداری عزت هم موږته په لاس راسی ، په دی وخت کې داآیت نازل سو : ﴿إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ﴾ (سورة الفتح) ربښتیا هم الله تاسوته حکم کوی چی امانتونه امانت ساتونکوته وسپاری

رسول الله ﷺ عثمان بن طلحه راوغوښتی اودکعبه شریف کلیانی یې بیرته ورکړی اودایې ورته وفرمایل چی داکلیانی دتل لپاره واخله یعنی همیشه به ستاپه کورنۍ کی وی ،، ماپه خپله نه دی درکړې بلکې الله تعالی تاته درکړی دی له ظالم اوغاصب پرته بی بل څوک له تانه سی اخیستلای (۳)

دکعبی شریف پربام باندی بلال رضی الله تعالی عنه اذان کوی !

دماپښین دلمانځه وخت راغلی رسول الله ﷺ بلال ﷺ ته حکم وکی چی دکعبی بام ته وخیژه اوآذان وکړه ، دمکی قریشو دربښتینی دین دښکاره کیدو دااعلان عجیبه اونادر منظرته له غرواوغونډیو کتل دقریشویو شمیر مشرانو دحق دین دعزت دامنظرته نه سو کتلای دئ پټ سو یوائې ابوسفیان ﷺ اوعتاب ﷺ اوخالدبن اسید ﷺ اوحارث بن هشام ﷺ چی وروسته مسلمانان سو اویوشمیرنورد قریشو مشران دکعبی شریف په غولي (انګړ) کی ناست وو عتاب اوخالد وویل چی الله ﷻ زماله پلارسره ډیر ښه وکول چی ددې اعلان تراوریدو مخکی یې له دی دنیا واخیستی حارث وویل قسم په الله ﷻ که زمایقین وای چی رسول الله ﷺ ربښتینی نبی دی نومابه هرومرو دهغه پیروی کړی وه ابوسفیان وویل زه هیڅ نه سم ویلای که مایو لفظ له خولی وایستی نوکاڼي هغه ته خبرورکوی ، رسول الله ﷺ ته دوحی له لاری خبرورکول سو کله چی رسول الله ﷺ ددوئ وخواته تیرسو نودوئ ته یې وفرمایل چی تاسو څه وویل زه په هغه خبرسوم دوئ چی څه خبری کړی وی هغه ټولی یې ټکی په ټکی ورته بیان کړی ، حارث اوعتاب وویل موږشاهدی ورکوو چی بیشکه ته دالله ﷻ رسول ﷺ یې ځکه له موږ څخه هیچاتاته ددی خبروخبرنه دی درکړی له دی معلومه سوه چی دالله ﷻ له خواتاته وحی سوی ده (رواه ابویعلی عن ابن عباس ﷺ اوابن ابی شیبة عن ام سلمة رضی الله عنها (۴)

---

(۱) له سعیدبن مسیب ﷺ څخه روایت سوی دی وایې چی عباس ﷺ هم ډیره هڅه وکړه مګر نبی کریم ﷺ ونه منله (زادالمعاد)
(۲) یعنی دحج په وخت کې وحاجیانوته دزمزم اوبه ورکولو خذمت موږته وسپاره)
(۳) فتح الباری جلد ۸ ص /۱۵ ، زرقانی جلد ۲ ص / ۳۳۷ ،، ۳۴۰)
(۴) زرقانی جلد ۲ ص / ۳۴۶)

سیف لودین کتابتون

نبی کریم ﷺ عتاب بن اسید رضی الله عنه د اسلام راوړولو وروسته د مکې والي وټاکی د عتاب رضی الله عنه عمر په دغه وخت کې یویشت کاله وو او ده ورځې یې یو درهم ورته وټاکی عتاب رضی الله عنه به ویل (ایها الناس اجاع الله اکبر من جاع علی درهم (روض الانف جلد۲/ص/۲۷۴) اې خلکو الله ﷻ دی هغه سړی نه مړوی څوک چې په یوه درهم نه مړیږی ..

دنبی کریم ﷺ دوفات تروخته پورې عتاب رضی الله عنه د مکې امیر وو کله چې خلیفه ابوبکر صدیق رضی الله عنه سو نو هغه هم په خپل حال پرېښودی په کومه ورځ چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفات سو په هم هغه ورځ عتاب رضی الله عنه هم وفات سو (استیعات لابن عبد البر ترجمه عتاب بن اسید رضی الله عنه)

بلال رضی الله عنه چې کله د کعبې پربام باندی آذان کوی نو ابو محذوره جمحی او څو نور ځوانانو د مسخرو په ډیرله له بلال رضی الله عنه سره د آذان کلمات غبرګول، ابو محذوره ډیر خوش آوازه وو او ډیر لوړ آواز یې وو د ابو محذوره آواز د رسول الله ﷺ غوږ مبارک ته ورسیدی رسول الله ﷺ حکم وکې چې دا سړی دی راحاضر سی کله چې هغه ځوانان راوستل سو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې زما غوږ ته یو خوږ آواز ورسیدی په تاسو کې دا کوم یو دی دوئ ابو محذوره ته اشاره وکړه رسول الله ﷺ نور پرېښودل او دده د پاته کیدو حکم یې وکی ابو محذوره وایې چې زه د رسول الله ﷺ مخ ته ودریدم او په زړه کی می داغالب ګمان وو چې زه به وژل کیږم خو رسول الله ﷺ ما ته امر وکی چې ته آذان وو ایه زړه می نه غوښتل خو مجبوره وم آذان می وکی تر آذان ویلو وروسته رسول الله ﷺ یوه کڅوړه راکه چې په هغه کی یو څه روپۍ وی او په سراو تندی باندی لاس مبارک راتیر کې او بیا یې په سینه او ځیګر او نس باندی ترنامه پورې لاس راتیر کې او دادعائې وکړه (بارک الله فیک وبارک الله علیک) ابو محذوره وایې چې دنبی کریم ﷺ په لاس تیریدلو سره زما ټوله کرکه په مینه بدله سوه او زړه می د رسول الله ﷺ له مینې ډک سو سمدستی می اسلام قبول کی او غوښتنه می وکړه چې یا رسول الله ﷺ ما د مکې مؤذن وټاکه رسول الله ﷺ وفرمایل ما ته د مکې مؤذن وټاکلی (۱) زه راغلم د مکې امیر عتاب بن اسید رضی الله عنه می هم له دی خبر کی او د رسول الله ﷺ د حکم مطابق می اذان کوی ټول ژوند په مکه کی واوسیدی او آذان یې کوی په کال ۵۹ هجری کی په مکه مکرمه کی وفات سو (استیعاب لابن عبد البر ترجمه ابو محذوره رضی الله عنه)

سهیلی ویلی دی چې ابو محذوره رضی الله عنه چې کله مؤذن وټاکل سو په دغه وخت کی د هغه عمر شپاړس کاله وو او تر وفات پورې د مکې مؤذن پاته سوی دی او تر وفات وروسته د هغه په اولادو کې نسل په نسل د هغه د آذان وارثان سو ،،

یو شاعر د ابو محذوره رضی الله عنه د آذان په اړه وایې اما ورب الکعبة المستورة .... وما تلا محمد من سورة

---

(۱) له یو شمیر روایاتو معلومیږی چې ابو محذوره رضی الله عنه د مکې له فتح وروسته دستی مؤذن وټاکل سو او له ډیرو روایاتو څخه بیا دا معلومیږی چې د حنین له غزا وروسته رسول الله ﷺ دیٔ مؤذن وټاکی ، والله اعلم)

سیف لودین کتابتون

قسم دی په رب دکعبی باندی چې په هغې باندی پوښ پروت دی اوقسم دی دقرآن په سورتوکوم چې محمدصلی الله علیه وسلم تلاوت کړی دی

والنغمات من ابی محذوره .... لافعلن فعلةً مذکورة

اوقسم دی دابومحذوره ؓ دآذان په خوږو نغمو زه به فلانی کارخامخاکوم (روض الانف جلد ۲ ص/۲۷۷)

نبی کریم ﷺ چې کله طواف وکړ ورروسته دصفاغونډۍ ته وختی اودبیت الله شریف خواته یې مخ وګرزوی ترډیره وخته یې لاس په دعاء اوحمداوثناء ویلو پورته کړی وو دغونډۍ په لمن کی دانصاروؓ ټولۍ وه په دی وخت کې یوشمیرانصاروؓ وویل چې الله تعالی خورسول الله ﷺ ته خپل ښاراوځمکه فتح کړه هسی نه چې رسول الله ﷺ دلته په مکه کی پاته سی اومدینه منوره پرېږدی دوئ په دی خبروبوخت وو چې په رسول الله ﷺ باندی دوحی آثارښکاره سو دصحابه کرام ؓ داعادت وو چې دوحی دنازلیدوپه وخت کی به هیڅ‌چادرسول الله ﷺ وخواته نه کتل کله چې وحی نازله سوه نورسول الله ﷺ وفرمایل ، اې انصاروؓ تاسوداسی ویلی دی ؟ دوئ وویل هویارسول الله ﷺ نبی کریم ﷺ وفرمایل : ښه پوه سی هیڅکله داسی نه سی کیدای زه دالله ﷻ بنده اودهغه رسول ﷺ یم مادالله ﷻ په امرهجرت کړی دی ، ستاسوژوندزماژونددی اوستاسومرګ زمامرګ دی ، انصاروؓ چې کله داواوریدل نوله سترګویې اوښکی روانی سوی اووې ویل یارسول الله ﷺ موږ په دی اندیښنه کی ووچې هسی نه چې هغه شمع چې موږ دهغې ځان ځارونکی فتنګان یو زموږ له کوروکډه وکړی موږقربانی ورکونکی مریان اووفادار خادمان یو دهررنګه قربانۍ لپاره تیاریو خودالله درسول ﷺ په اړه ډیر بخیلان یو ؟ رسو ل الله ﷺ وفرمایل الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ تاسوربښتینی ګڼی (رواه مسلم واحمد وغیرهما عن ابی هریرة ؓ ، زرقانی جلد ۲ ص / ۳۳۲،، البدایه والنهایه جلد ۴ ص / ۳۰۶،،او ۳۰۷)

له نارینه اوښځوسره بیعت !

رسول الله ﷺ چې کله له دعاء فارغ سو دصفاپرغونډۍ کېنستی خلک دبیعت لپاره راتلل رسول الله ﷺ په اسلام اودالله اورسول ﷺ په اطاعت باندی بیعت ورسره کوی له نارینه وو څخه یواځې په اسلام اودتوان په اندازه دهغه درسول ﷺ په پیروی باندی بعیت واخیستی اوپه یوشمیرروایاتوکی راځی چې له نارینه ووڅخه په اسلام ، جهادبیعت اخیستی اوله ښځویې پرهغه شیانوبیعت اخیستی کوم چې په سورة الممتنحه کی یادسوی دی ، کله چې دنارینه ووبیعت خلاص سو نوله ښځویې بیعت اخیستی په هغه شیانوکوم چې په بیعت النساء کی ذکرسوی دی ﴿یَا اَیُّهَا النَّبِیُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ یُبَایِعْنَكَ عَلٰی اَن لاَّ یُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَیْئاً وَلاَ یَسْرِقْنَ وَلاَ یَزْنِینَ وَلاَ یَقْتُلْنَ اَوْلاَدَهُنَّ وَلاَ یَاْتِینَ بِبُهْتَانٍ یَفْتَرِینَهُ بَیْنَ اَیْدِیهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ وَلاَ یَعْصِینَكَ فِی مَعْرُوفٍ فَبَایِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِیمٌ﴾ (۱۲آیت سورة الممتنحة)

رسول الله ﷺ له ښځوسره یواځې په ژبه مبارکه بیعت کوی اودرسول الله ﷺ لاس مبارک یووخت هم هیڅکله له پردی ښځې سره نه دی موښتی اونه یې هیڅ وخت له پردی ښځې په لاس سترې مشی کړی ده بلکې دکېږې یاټوکرپه واسطه به یې بیعت ورسره کوی دهغه

سیف لودین کتابتون

اوداسی هم پیښ سوی دی چې داوبو پیاله به یې راوغوښته په هغه پیاله کې به یې لاس مبارک داخل کې اوبیا به یې پیاله دباندی راوایسته اوښځوته به یې حکم وکی چې تاسوهم په دی پیاله کی خپل لاسونه واچوی ښځوبه هم خپل لاسونه په هغه پیاله کې واچول په دی طریقه بیعت ټینګیدی که موتفصیل په کاروی نوتفسیرقرطبی سورة ممتنحه جلد ۸ /ص /۷۱وګوری چې کوموښځوبیعت کړی دی تاریخ ابن اثیرجلد ۲ /ص /۶۶)

ابن اثیرجزری وایې کله چې رسول اللهﷺ دنارینه وو له بیعت کولو فارغ سونودښځوسره یې بیعت وکی موږدقریشودیوځومشهوروښځویادونه کووهغه په لاندی ډول دی

(۱) ام هانئ بنت ابی طالب ؓ یعنی دعلی ؓ خور

(۲) ام حبیبه بنت عاص بن امیه رضی الله تعالی عنها دعمروبن عبدودعامری ښځه

(۳) اروی بنت العیص رضی الله تعالی عنها یعنی دعتاب بن اسید ؓ خاله

(۴) عاتکه بنت ابی العیص رضی الله تعالی عنها یعنی داروی خور

(۵) هنده بنت عتبه رضی الله تعالی عنها دابوسفیان ؓ ښځه اودامیرمعاویه ؓ مور

هندیؓ چې کله دبیعت لپاره حاضره سوه نومخ یې په پړونی پټ کړی وو ځکه دی په احدکی دحمزه ؓ سینه څیرلی وه اودهغه زړه اوینه راکښلی وو اودهغه له زړه څخه یې وینی زیښلی وی خواوس ډیره پښیمانه وه دډیر حیاء اوشرم له کبله یې مخ پټ وو اوغلی ناسته وه ددی لپاره چې رسول اللهﷺ یې ونه پیژنی ددی دبیعت قصه په لاندی ډول ده

هنده : یارسول اللهﷺ ته زموږ څخه دکوموشیانوبیعت اخلی ؟

رسول اللهﷺ له اللهﷻ سره به هیڅکله هیڅوک نه شریک کوی

هنده : یارسول اللهﷺ له موږ څخه دهغه خبروژمنه اخلی چې له نارینه وو دی نه دی اخیستی خوموږ یې په سترګومنو

رسول اللهﷺ اوبل داچې غلا به نه کوی ،

هنده : زه خودخپل خاوند (ابوسفیان) له مال څخه څه رااخلم خوداراته معلومه نه ده چې داپه غلاکی داخل دی که نه ابوسفیان په دغه وخت کې ناست وو ابوسفیان وویل څه چې تیرسو هغه وبښل سو ؟

رسول اللهﷺ وفرمایل چې داړتیاپه اندازه دخاوندله مال څخه پردمیړه له اجازی مال اخیستل راودی چې په عرف اورواج کی ستااوستادبچیانواړتیاوی په پوره سی .

رسول اللهﷺ اوبل داچې زنابه نه کوی ،

هنده : یارسول الله آیا عزتمنده ښځه هم زناکولای سی

رسول اللهﷺ اوبل داچې خپل اولادونه به نه وژنی

هنده : بنیاهم صغاراً وقتلتم یوم بدر کباراً فانت وهم اعلم) موږدوئ په وړوکوالی کی وپالل اوتادوئ په بدرکې ووژل نوته پوه سوی اودوئ ..

عمرفاروق ؓ چې کله واوریدل وې خندل

رسول اللهﷺ : اوبل داچې په هیڅ چا به تورنه تړی

هنده : والله ان اتیان البهتان بقبیح وماتأمرنا الابالرشد ومکارم الاخلاق .
قسم په الله ﷺ په چاباندې تور تړل ډیر بد کاردی او ته موږ ته دسمې لارې او ښو خویو پرته د بل شئ حکم نه کوې
رسول الله ﷺ : او بل دا چې په ښه کار کې به نافرمانې او مخالفت نه کوې (۱)
هنده : زموږ په دې مجلس کې ستا د نافرمانۍ اراده او خیال هم نسته
رسول الله ﷺ عمر ﷺ ته امر وکی چې له دې بیعت واخله تر بیعت وروسته رسول الله ﷺ دهغې لپاره د مغفرت او بښنې دعا وکړه (۲)
هنده : تر اسلام راوړلو وروسته وویل یا رسول الله ﷺ تر اسلام مخکې ما ته ستا تر مخ بل مبغوض مخ نه وو اونه مې تر تا بل څوک ډیر دښمن وو او اوس بیا ستا تر مخ ما ته بل محبوب مخ نسته .
رسول الله ﷺ وفرمایل : چې اوس به محبت نور هم زیاتیږي ..

دویمه خطبه ! دا بن اسحق په روایت کې راغلې دي چې د مکې د فتح په دویمه ورځ یوه خزاعي سړي د هذیل قبیلې یو مشرک ووژي ، رسول الله ﷺ چې کله خبر سو نو صحابه کرام ﷺ یې راغونډ کړل او د صفا غونډۍ ته وختې ودریدی او دا خطبه یې ولوسته : یاایها الناس ان الله حرم مکة یوم خلق السموات والارض فهی حرام الی یوم القیامة فلایحل لامرئ یؤمن بالله والیوم الاخر ان یسفک فیها دما ولایعض فیها شجرة ولم تحل لاحدکان قبلی ولاتحل لاحد یکون بعدی ولم تحلل لی الا هذه الساعة غضبا علی اهلها الاثم قد رجعت کحرمتها بالامس فلیبلغ الشاهد منکم الغائب فمن قال لکم ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قاتل فیها فقولوا ان الله قد احلها لرسوله ولم یحللها لکم یامعشر خزاعة ارفعوا ایدیکم عن القتل فلقد کثر القتل لقد قتلتم قتیلا لادیته فمن قتل بعد مقامی هذا فاهله بخیر النظرین ان شاؤ فدم قاتله وان شاؤ فدیته
ژباړه : اې خلکو په تحقیق سره الله تعالی چې په کومه ورځ ځمکې او اسمانونه پیدا کړه به هم هغه ورځ یې د مکې حرام او محترم پیدا کړه نو دا به تر قیامته پورې حرام او عزت منده وي نو د هیڅ یوه سړي لپاره چې په الله تعالی او د قیامت په ورځ ایمان لرې دا نه دي روا چې به مکه کې وینه وبهوي او نه د چالپاره د ونې پریکول روادي ، مکه تر ما مخکې د چالپاره حلال سوې ده او نه به تر ما وروسته د چالپاره حلال سي او زما لپاره یوائې په همدې ساعت او همدې ګړې کې حلال سوې ده د مکې د خلکو د نافرمانۍ او ناخوښي له کبله او په دې خبر سې چې دد ې حرام والی بیر ته د تیر په شیر لکه څنګه چې پرون وو وګرزیدی نو په تاسو کې چې څوک حاضر وي هغه دې زما دا پیغام هغه خلکو ته ورسوي کوم چې غائب دي او تاسو ته که څوک دا ووایې چې رسول الله ﷺ په مکه کې قتال کړی دی نو تاسو به هغه ته داسې ووایاست چې رښتیا هم الله تعالی یوائې خپل رسول ﷺ لپاره دڅه وخت لپاره حلاله کړې وه او ستاسو لپاره حلاله نه ده اې د خزاعه قبیلې له وژلولاس پورته کې تاسو یو سړی وژلی دی چې د هغه دیت زه ورکوم او له ننه وروسته که چا څوک ووژی نو د مړی کورنۍ ته له دوو خبرو د یوې خبرې خوښې وي یا خو به د وینې په بدل کې د وژونکي وینه تویوي او یا به د وژونکي څخه د مړي پور اخلي ..
تردې وروسته رسول الله ﷺ دخپل طرف سل اوښان د هغه سړي دیت آدا کې چې خزاعه وژلی وو (۳)

(۱) زرقانی جلد ۲ /ص/ ۳۱۶) ــــــ (۲) الکامل لابن الاثیر جلد ۲ / ص / ۹۶ ـــــ (۳) سیرة ابن هشام جلد / ۴ /ص/ ۵۸)

سیف لودین کتابتون

دمکی مشرکینو د مهاجرینو ﷺ کورونه او جایدادونه غصب کړی وه کله چی رسول الله ﷺ دخطبی له لوستلو خلاص سو دکعبه په دروازه لاوولاړوو چی ابواحمدبن جحش ﷺ ولاړسو او دخپل هغه کوردسپارلو په اړه څه ویل غوښتل چی ابوسفیان دده ترهجرت وروسته په څلورسوه دیناره خرڅ کړی وو ، رسول الله ﷺ هغه راوغوښتی او په وروېې ورته څه وفرمایل : ابواحمدبن جحش ﷺ دخبری په اوریدوسره غلی سو اونوریې هیڅ هم ونه ویل کله چی له ابواحمد ﷺ څخه پوښتنه وسوه چی رسول الله ﷺ تاته څه ویلی وو ابواحمد ﷺ وویل چی پیغمبر ﷺ داسی وفرمایل چی که ته صبروکې نوستالپاره به غوره وی اوددی کورپه بدل کی به الله تعالی تاته په جنت کی یو کوردرکړی ماورته وویل زه صبرکوم ،، ترده وروسته یوشمیرنورومهاجرینوغوښتنه وکړه چی موږته دی خپل کورنه وسپارل سی خورسول الله ﷺ وفرمایل ستاسو کوم مال چی دالله ﷻ په لارکې مصرف سوی دی دهغه بیرته غوښتل زه نه خوښوم کله چی مهاجرینو ﷺ داخبره واوریده هیچاهم څه ونه ویل کوم کورونه چی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ لپاره پری ایښی وو بیایې دهغوغوښتنه نه ده کړی اوپه کوم کورکې چی رسول الله ﷺ پیداسوی وو اوپه کوم کورکې چی یې له خدیجة الکبری ﷺ سره واده کړی وو نبی کریم ﷺ دهغه په اړه هم هیڅ ونه ویل (۱)

له بښنی وروسته دڅو څانګړو اوسخترینو مجرمینو په اړه حکم !

دمکی دفتح په ورځ رسول الله ﷺ دعامی ښښنی اعلان وکی په دوئ کې هغه څوک ووچی درسول الله ﷺ په لاره کې اغزی اچولی وو اوچاپیا رسول الله ﷺ په کانو ویشتلی وو اوچاپیا ټول وخت درسول الله ﷺ په مقابله کی تیرکړی وو او هغه څوک چی درسول الله ﷺ پښي یې په وینولړلی وی دوئ ټولوته یې دبخښنی اعلان وکي مګریوڅوتنه چی درسول الله ﷺ په اړه یې ډیری بی ادبه اوناوړه خبری کړی وي ددوئ په اړه داحکم وسو چی هرڅا که وموندل سی ودې وژل سی ددوئ په اړه دالله ﷻ داحکم دی : ﴿مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا﴾(۶۱)﴿سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلُ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلًا﴾ (۶۲)سورة الاحزاب)

ژباړه : پردوئ لعنت ویل سوی دی هرچیری چی پیداسی، ودې نیول سی اوښه دی ووژل سی لکه څنګه چی دتیرسویو مفسدینو په اړه دالله ﷻ داپریکړه دی اودالله ﷻ په قانون اوعادت کی به هیڅ تغیراوتبدیل نه ووینی ..

دنبی کریم ﷺ عزت اوتعظیم اودهغه ساتنه اومرسته پرټول امت باندی فرض دی دهغه بی عزتی دالله ﷻ ددین بی عزتی دی اوالله تعالی فرمایې (ان شانئک هوالابتر) رښتیاهم

(۱) الصارم المسلول صفحه ۱۵۴) داکتاب په دائرة المعارف حیدرآباد دکن کې چاپ سوی دی شانقین دی خبری وی

سیف لودین کتابتون

ستا دښمن ذلیل اوبی برکته دی ،، او الله تعالی فرمایي : ﴿وَإِن نَّكَثُوا أَيْمَانَهُم مِّن بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنتَهُونَ﴾(١٢) ﴿أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَّكَثُوا أَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوا بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَوْهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ (۱۳) آیت سورة التوبه)

ژباړه : که له ژمنی کولو وروسته خپل قسمونه مات کی اوستاسو په دین پوری بد ووایې نودا د کفرله مشرانوسره وجنګیږه ربښتیاهم ددوئ قسمونه هیڅ شئ نه دی ددې لپاره چې داسی شرارتونه منع سی تاسو ولی دهغه خلکوسره جنګ نه کوي چې هغوئ خپل قسمونه مات کړل اوپیغمبر ﷺ دایستلو کوشش یې وکي اودپریکړی په ماتولوېې پیل وکي آیاتاسو له هغوئ بیریږی یواځی له الله تعالی وبیریږی که تاسو مومنان یاست ..

یعنی کومو خلکو چې نبی کریم ﷺ له مکی وایستی له هغوئ سره په جنګ کولوکی مومنانوته یوه ذره فکر کول نه دی په کار دهغوئ وښکاره زور اودبدبی اومادی ساز وسامان څخه مه بیریږی یواځي له الله ﷻ څخه وبیریږی اودهغه درسول ﷺ په مرسته اوساتنه کی ځان اومال اوهرڅه ته چې اړتیاوی هغه مه سپموی اوداخبره هوښیارانوته معلومه ده درناورځي په ځیرروښانه ده چې ښکنځل بدرد ناوړه خبری ټوقی مسخری داجرم دشړلوترجرم ډیر سخت دی حکومت سخت مجرم ببنلای سی مګر دعزتمند پاچا په شان کې دبی ادبی کونکی اوبدزبانه ته دیوه ګړی لپاره سترګی نه سی پټولای ځکه په دی کی دحکومت بی عزتی ده اوبل داچې دپیغمبر ﷺ سپکاوی اوبی عزتی دټول امت سپکاوی اوبی عزتی ده ځکه پرهرمسلمان دافرض دی چې کله درسول الله ﷺ په شان کی بی ادبی واوری نوسمدستی دی دهغه مجرم روح واخلی یادی خپل روح ورکړی

تشتم ایدینا ویحلم رأینا .... ونشتم بالافعال لا بالتکلم

زموږ لاسونه ښکنځل کوی اوزموږ رایه اوعقل حلم اوصبر کوی اوموږ په عمل سره ښکنځل کوونه په ژبه سره

دقاضی عیاض په شفاکی راغلی دی چې خلیفه هارون رشیدله امام مالک رحمه الله علیه څخه دنبی کریم ﷺ په شان کې دبی ادبی کونکی په اړه حکم وپوښتی نوهغه په ځواب کې ورته وویل (مابقاالامة بعدشتم نبیها) دهغه امت به څه ژوندوی چې دهغه پیغمبر عليه السلام ته ښکنځل کیږی دشیخ الاسلام حافظ ابن تیمیه عراقی قدس الله سره آمین) په وخت کې یونصرانی درسول الله ﷺ په شان کی بی ادبی وکړه ، نوشیخ الاسلام دشپږسوه پاڼو یوغټ کتاب یواځي پردی موضوع باندی ولیکی او الصارم المسلول علی شاتم الرسول ﷺ یې دهغه نوم کیښودی چې په هغه کی دقرآنی آیاتو اودنبوی احادیثو اوصحابه رضی الله عنهم اوتابعینو اجماع اودخلفاء راشدینو تعامل اوپه عقلی دلائلوسره درسول الله ﷺ دبی ادبی کونکی واجب القتل کیدل ثابت کړی دی ،، جزاه الله تعالی عن الاسلام والمسلمین خیراً آمین ثم آمین

سیف لودین کتابتون

لنډه خبرداده : دکومو خلکوپه اړه چې رسول اللهﷺ دمکې دفتح په ورځ داحکم کړی وو چې هرچیرې پیداسي وديې وژل سي دهغوئ شمیرتقریباً پنځلس یاشپاړس وو ددوئ تفصیل په لاندې ډول دی :

لومړی کس عبدالله بن خطل وو عبدالله په لومړی سرکې مسلمان سو اورسول اللهﷺ عامل وټاکی اودزکوټوراټولولپاره یې ولیږی یومریئ اویوانصاري یې ورسره ملګري کړه کله چې دوئ یومنزل سفروکي ابن اخطل مریی ته دخوراک تیارولوحکم وکی مري ستړی وو بیده سو کله چې راوینښ سو نوابن اخطل مریئ ولیدی چې تراوسه یې لاخوراک نه دی تیارکړی ډیرپه غصه سو هغه مریئ ووژي وروسته په زړه کې وروګرزیدل چې رسول اللهﷺ به خامخادمریئ په قصاص کې ماوژني ځکه نومرتدسو اوله هغه ځایه مکې ته راغلی اوله مشرکینوسره یوځای سو اودزکوة اوښان یې هم له ځان سره راوستل اودرسول اللهﷺ په شان کې به یې ناوړه شعرونه هم ویل اووینځوته یې هغه شعرونه ورکول چې په ښه آوازیې ولولي ،، نودده دري جرمه وو یووینه تویيدل دویم مرتدکیدل ، دریم جرم چې ترټولوغټ جرم وو هغه درسول اللهﷺ په شان کې ناوړه ژبه استعمالول وو ابن اخطل دمکې دفتح په ورځ دکعبې شریف په پردوکې ځان وپیچي اوپه حرم کې یې پناه واخیسته نبي کریمﷺ ته وویل سو چې ابن اخطل دبیت الله پردې نیولې دي ؟ نبي کریمﷺ وفرمایل هم هلته یې ووژنی تردی وروسته ابوبرزه اسلمیؓ اوسعدبن حریثؓ په هم هغه ځای کې دده ژوندپای ته ورسوی دحجر اسود اومقام ابراهیم په مینځ کې دده سرلاندی راګیل سو (الصارم المسلول صفحه ۶۳۳، وزرقاني جلد ۲ /ص/ ۳۱۴)

دویم اودریم : قرنتي اوقریبه وه ، دوئ دواړې دابن اخطل وینځې وې شپه اوورځ به یې دنبي کریمﷺ په شان کې ناوړه شعرونه په خواږه اوازویل دمکې مشرکین به په یوباندار کې رایوځای سو شراب به یې وڅیښل اودوئ دواړوبه دنبي کریمﷺ په بدۍ ویلوکې په خواږه آواز غزلې ویلې یوه په دوئ کې ووژل سوه اوبلې دامن غوښتنه وکړه هغې ته امن ورکړل سو هغه راغله اوتوبه وکښه مسلمانه سوه (۱)

څلورم : ساره : په بني مطلب کې دیوسړې مینځه وه دې هم دنبي کریمﷺ په شان کې ناوړه شعرونه ویل یوشمیرخلک وایې چې ووژل سوه اونوربیاوایې چې اسلام یې راوړی اودعمرؓ دخلافت تروخت ژوندی وه اوداهغه مینځه وه چې دحاطب بن ابی بلتعهؓ لیک یې مکې ته راوړی

(۱) الصارم المسلول صفحه ــ ۱۲۶ ــ

پنځم : **حُویرث بن نقید**) دئ هم شاعروو اودرسو ل اللهﷺ په شان کې به یې ناوړه شعرونه ویل ځکه دده وینه توی سوه علیؓ کرم الله وجهه دئ ووژی (۱)

شپږم کس : **مقیس بن صبابه**) دئ لومړی مسلمان وو دبني قردپه غزاکې یوه انصاری دده ورور هشام ددښمنانوپه شک په غلطۍ سره ووژی ، رسول اللهﷺ ددیت ورکولوحکم وکي

سیف لودین کتابتون

خو مقیس د دیت له اخیستلو وروسته انصاری شهید کی او مرتد سو ولاړی مکی ته د مکی د فتح په ورځ رسول الله ﷺ د هغه دوژلو اجازه ورکړه غلیة عبدالله لیثی رضی الله عنه هغه ووژی (۲) مقیس بن صبابه په بازار کې روان وو ونیول سو او ووژل سو (۳)

اووم : عبدالله بن سعدبن ابی سرح) دئ هم لومړی د رسول الله ﷺ دوحی لیکونکی وو وروسته له دینه واوښتی اوله کافرانو سره ملګری سو دعثمان غنی رضی الله عنه رضاعی ورور وو دمکی دفتح په ورځ پټ سو عثمان غنی رضی الله عنه هغه پیدا کي اونبی کریم ﷺ ته یې راوستی رسول الله ﷺ په دغه وخت کې له خلکو بیعت اخیستی عثمان رضی الله عنه وویل یارسول الله ﷺ عبدالله حاضر دی له هغه بیعت اخلی ، نبی کریم ﷺ دغه وخت لپاره هیڅ ونه ویل خو کله چې عثمان رضی الله عنه له رسول الله ﷺ څخه بیا بیا غوښتنه وکړه نو نبی کریم ﷺ له عبدالله ابن ابی سریح سره بیعت وکي او اسلام یې قبول کي په دې طریقه هغه له مرګه وژغورل سو وروسته نبی کریم ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم ته وفرمایل چې په تاسو کی څوک نه پوهیدی چې کله ما له عبدالله څخه بیعت نه اخیستی په همدی وخت کی یې هغه وژلی وای یوه صحابی رضی الله عنه وویل یارسول الله ﷺ په دغه وخت کی تا اشاره ولی نه کوله ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل دنبی لپاره اشاره کول مناسب نه دی ،، عبدالله بن ابی سریح داخل په رښتیا ایمان راوړی او وروسته بیا هیڅ خبره نه ده ځنی اوریدل سوی دعمرفاروق رضی الله عنه اوعثمان رضی الله عنه دخلافت په وخت کی دمصر اونورو ځایو والی پاته سوی دی او دعثمان رضی الله عنه دخلافت په وخت کی په کال ۲۷ یا ۲۸ هجری کی دافریقا دفتح مشری دده پرغاړه وه او کله چې دغنیمت مال ویشل کیدی نو دهر مجاهد برخه درې زره دیناره سوه دعثمان رضی الله عنه له شهادته وروسته له فتنو څخه بیخی بیل وو اوله علی رضی الله عنه او معاویه رضی الله عنه یوه سره یې هم بیعت نه دی کړی دمعاویه رضی الله عنه دامارت په پای کې په عسقلان کې وفات سو دوفات عجیبه پیښه ده ، عبدالله بن سعدبن سرح رضی الله عنه یوه ورځ سهار ولاړ سو اوداد عائی وغوښته (اللهم اجعل عملی الصبح) اې الله جل جلاله زما آخری عمل دسهار په وخت کې وګرزوی ، اودس یې وکی اولمونځ یې کوي راسته طرف ته یې سلام وګرزوی خو کله چې چپه طرف ته سلام ګرزول غوښتل روح یې لوړ عالم ته والوتی ، اناالله وانا الیه راجعون ، رضی الله عنه وارضاه (۳)

اتم : عکرمه بن ابی جهل) دئ هم له هغو خلکو څخه وو چې دمکی دفتح په ورځ یې نبی کریم ﷺ وینه مباح ګرزولی وه ، عکرمه دابوجهل زوی او دپلار په شیر دئ هم د رسول الله ﷺ له سختو دښمنانو څخه وو دمکی دفتح په ورځ یمن ته وتښتیدی دعکرمه ښځی ام حکیم بنت حارث بنت هشام ، اسلام راوړی اوله رسول الله ﷺ څخه یې دخپل میړه لپاره

---

(۱) زرقانی جلد ۲ / ص / ۳۱۵)
(۲) فتح الباری جلد ۸ / ص / ۹)
(۳) البدایه والنهایه جلد / ۴ / ص / ۲۹۸)
(۴) الاصابه جلد ۲ / ص / ۳۱۶ [illegible]

سیف لودین کتابتون

دامن غوښتنه وکړه رحمت للعالمین صلی الله علیه وسلم دخپل سخت دښمن ابوجهل دزوی لپاره دامن غوښتنه سمدستی ومنله ،
عکرمه وتښتیدی اودساحل غاړی ته ورسیدی په همدی وخت کې یوه بیړۍ راغله اوعکرمه پکښې سپورسو کښتۍ سفرپیل کې چې یودم تیزباداوداوبوڅپې راغلی اوکښتۍ یې راګیرکه عکرمه دلات اوعزی څخه مرسته وغوښته ، خوپه کښتۍ کې خلکوورته وویل په دی وخت کې لات اوعزی هیڅ هم نه سی کولای یوازې یوه الله ﷻ ته فریادکوی ، عکرمه وویل قسم په الله ﷻ چې په سیند کې له الله ﷻ پرته بل څوک په کارنه سی راتلای نوپوه سوم چې په وچه کې هم پرته له الله ﷻ هیڅوک څه نه سی کولای په همدی وخت کې می په رښتیاله الله ﷻ سره داسی ژمنه وکړه (اللهم لک عهدان عافیتنی مما انافیه ان آتی محمدا حتی اضع یدی فی یده فلا جدنه عفوا غفورا کریما) اې الله ﷻ زه له تاسره داژمنه کوم چې که تازه له دی غمه خلاص کړم نوخامخابه محمد ﷺ ته حاضرېږم اوخپل لاس به دهغه په لاس کی ایږدم اورښتیابه زه هغه ښښونکی اومهربان اوعفوه کونکی پیداکړم ..
له بل لوری دعکرمه ښځه ام حکیم هم وررسیده اووې ویل (یاابن عم جئتک من عندابر الناس واوصل الناس وخیر الناس لاتهلک نفسک انی قداستأمنت لک رسول الله صلی الله علیه وسلم) اې زمادآکازویه زه تاته دهغه چاله خوااغلی یم چې ترټولوډیرنیکی کونکی دی اوډیرخپلوی پالونکی دی اوپه ټول مخلوق کې غوره سړی دی ته ځان مه برباده وه ماستالپاره له رسول الله ﷺ څخه امان لاس ته راوړی دی ..
عکرمه چې کله داخبری واوریدی دام حکیم سره راروان سو په لاره کی یې دکوروالی نیت وکې ام حکیم ؓ وویل نه اوس خوته کافرېې اوزه مسلمان یم عکرمه وویل رښتیاهم لوی شئ ته منع کړی یې دایې وویل اودمکې وخواته راروان وو رسول الله ﷺ دعکرمه تر رارسیدو مخکی صحابه کرام ؓ ته فرمایلی وو (یاتیکم عکرة مؤمنافلاتسبوا اباه فان سب المیت یؤذی الحی) عکرمه مسلمان راروان دی نوځکه تاسو دهغه پلارته بدمه وایاست ځکه مړی ته په بدوېلوژوندی ته تکلیف رسیږی ..
عکرمه رسول الله ﷺ ته راورسیدی اودرسول الله ﷺ مخ ته ودریدی خپله میرمن ورسره ملګری وه دهغې پړونی پرسروو اودده څنګ ته ودریده عکرمه وویل چې زمامیرمن ولاړه ده دې ماته ویلی دی چې تاماته امان راکړی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل دی رښتیاویلی دی تاته امان دی عکرمه وویل ته وکوم شئ ته بلنه ورکوی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل ددی خبرشاهدی ورکه چې الله ﷻ یودی ، اوله هغه پرته هیڅوک دبندګی وړنسته اوزه داالله ﷻ رسول ﷺ یم اولمونځ کوه اوزکوة ورکوه اوداسلام نور ارکان یې ورته بیان کړه عکرمه وویل : (قد کنت لاتدعوا الاالی الخیر وامر حسن جمیل قد کنت فینا یارسول الله ﷺ قبل ان تدعونا وانت اصدقنا حدیثاً وابرنا) رښتیاهم ته خیراوغوره اوښوخبروته بلنه ورکوی یارسول الله ﷺ ددی حق بلنی څخه مخکې هم ته په موږ کی ترټولوډیررښتینی اونیک وی

سیف لودین کتابتون

وروسته یې وویل(اشهدان الااله الاالله وان محمداعبده ورسوله)دشهادت دکلمی له ویلو وروسته عکرمه رضی الله عنه وویل زه الله تعالی اوټول ناست خلک شاهدان کوم چی زه مسلمان یم مجاهدیم اومهاجریم (۱) اواې دالله رسولهﷺ زماله تاداغوښتنه ده چی زمالپاره له الله جل جلاله بخښنه وغواړې؟ نبی کریمﷺ دعکرمه رضی الله عنه لپاره دبخښنی دعاوکړه عکرمه رضی الله عنه وویل یارسول اللهﷺ قسم په الله جل جلاله ماچیکوم مصرف اولګښت دالله جل جلاله دلاری دمخنیوی لپاره کړی دی اوس به زه دالله جل جلاله ولاری ته درابللولپاره دهغه دوه برابره لګښت کوم اوڅومره جګړی چی می دالله جل جلاله اودهغه درسولﷺ په خلاف کړی دی دهغه دوه برابره جګړی به دالله جل جلاله په لاره کې کوم اوپه کومو ځایوکې چی به ماخلک دالله جل جلاله له لاری منع کول په هم هغوځایوکې به خلک دالله جل جلاله ولاری ته رابولم ، اوعکرمه رضی الله عنه همداسی هم وکړه دابوبکرصدیق رضی الله عنه دخلافت په وخت کی ابوبکرصدیق رضی الله عنه لښکر دمرتدینو دمقابلی لپاره ولیږی عکرمه رضی الله عنه دهغه لښکرمشراوامیروو لنډه داچی ټول ژوندیې دالله جل جلاله اودهغه درسولﷺ له دښمنانوسره په جهاداوجګړوکې تیر کر دابوبکرصدیق رضی الله عنه دخلافت په وخت کی داجنادین په جنګ کی شهیدسو اوپربدن مبارک یې دغشواوتورو تراویازیات ټپونه وو روح دی ښاد وی (۲)

ام المؤمنین ام سلمة رضی الله عنها څخه روایت وایې چی رسول اللهﷺ وفرمایل چی ماپه خوب کې دابوجهل لپاره په جنت کې یوه ماڼۍ ولیده کله چی عکرمه رضی الله عنه مسلمان سو نورسول اللهﷺ ام سلمه رضی الله عنها ته وفرمایل چی دهغه خوب تعبیراوترجمه عکرمه دی (اصابه ترجمه عکرمه رضی الله عنه)

دعکرمه رضی الله عنه له اسلام راوړلووروسته داسی حالت ووچی کله به دقرآن کریم دتلاوت لپاره کینستی اوقرآن کریم به یې تلاوت کوی نودومره به یې ژړل چی دبې هوښۍ حالت به پرراغلی اوده په وار وار ویل (هذاکلام ربی ، هذاکلام ربی) دازمادرب جل جلاله کلام دی دازمادرب جل جلاله کلام دی (۳)

په یو ه روایت کی راځی چی دمکی په فتح کی عکرمه رضی الله عنه یومسلمان شهیدکي کله چی رسول اللهﷺ خبرسو نومسکی سو اووې فرمایل چی قاتل اومقتول دواړه په جنت کی دی (۴) ودیته اشاره وه چی عکرمه که څه هم اوس مشرک دی خوژرده چی په اسلام کی به داخل سی ..

نهم : هبارابن الاسود)هبارمسلمانانوته ډیری ستونزی رسولی وی اودرسول اللهﷺ لور زینب رضی الله عنها دابوالعاص بن ربیع ښځی چی کله له مکی څخه دهجرت په نیت مدینی منوری ته روانه سوه نوهباربن اسود له ځونورو کسانوسره ولاړی اوپه لاره کی یې زینب رضی الله عنها په

---

(۱) زرقانی جلد ۲ /ص /۳۱۴)
(۲) الاستیعاب لابن عبدالبر جلد ۳ /ص /۱۴۸)
(۳) احیاء علوم الدین جلد ۱/ ص /۲۵۳)

سیف لودین کتابتون

نیزه ووهله چې په دې نیزه وهلو سره هغه له اوښه راولویده دا په همدې وخت کې حامله وه حمل یې ضائع سو او په همدې ناروغی کې وفات سوه (انالله وانا الیه راجعون) دمکې دفتح په ورځ رسول الله ﷺ دهبار بن اسود وینه مباح ګرزولې وه کله چې رسول الله ﷺ له جعرانه راستون سو نو هبار یې په خدمت کې حاضر سو راغلی مخامخ ودرېدی صحابه کرام ﷺ وویل یا رسول الله ﷺ دغه هبار بن اسود دی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل ماولیدی له ناستو صحابه ﷺ څخه یوه دولا ړېدو نیت وکې نبی کریم ﷺ وفرمایل کښېنه ، هبار بن اسود ودرېدی وی ویل (اَلسَّلَامُ عَلَیْکَ یَا نَبِیَّ اللهِ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ وَقَدْ هَرَبْتُ مِنْکَ فِی الْبِلَادِ وَاَرَدْتُ اللِّحَاقَ بِالْاَعَاجِمِ ثُمَّ ذَکَرْتُ عائدتک وَصِلَتَکَ وصفحک عمن جهل علیک وکنا یا نبی الله اهل شرک فهدانا الله بک وانقذنا من الهلکة فاصفح عن جهلی وعما کان یبلغک عنی فانی مقر بسوء فعلی معترف بذنبی فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم قد عفوت عنک وقد احسن الله الیک اذهداک للاسلام والاسلام یجب ماقبله (۱)

ژباړه :سلام دې وی پرتا باندې اې دالله ﷻ نبی ﷺ زه شاهدی ورکوم چې له الله ﷻ پرته دبندګۍ وړ هیڅوک نسته او محمد ﷺ دالله ﷻ رسول ﷺ دی زه ستا څخه نوروښاروته وتښتېدم زما نیت وو چې له عجمیانو سره یو ځای سم خو وروسته ستا احسان او ستا خپلوی اوله ناپوهانو سره ستا مخ اړونه را یاده سوه اې دالله نبی ﷺ موږ مخکې مشرکین وو بیا موږ ته الله ﷻ ستا په رالیږلو سمه لار روښوده اوله بربادی یې وژغورلو نو ته زما د ناپوهي څخه مخ واړوه او دهغه خبرو چې تا ته زما له لوری رسیدلي دي ربنتیا هم زه په خپل بد کار اقرار کوم او د خپلې ګناه اقرار کوم ، نبی کریم ﷺ وفرمایل : ما تا ته بخښنه وکړه اوالله ﷻ له تا سره ډېره نیکي وکړه چې تا ته یې سمه لار روښوده او اسلام تېر سوی ګناهونه ختموی

لسم (وحشی بن حرب) وحشی دسید الشهداء حضرت حمزه رضی الله تعالی عنه قاتل دی چې دهغه پوره بیان داحد په غزا کې تېر سوی دی وحشی طائف ته وتښتېدی او بیا له هغه ځایه مدینې منورې ته ولاړی او اسلام یې ومنی او دخپلې ګناه بخښنه یې وغوښته.

ابو بکر صدیق ﷺ چې کله مسلیمة الکذاب ته دمقابلې لپاره لښکر ولیږی نو په دوئ کې وحشی بن حرب ﷺ هم وو په کومه نیزه چې یې حمزه ﷺ شهید کړی وو هغه ورسره وه او په هم هغه نیزه یې مسیلمة الکذاب جهنم ته ورسوی وحشی به ویل چې په دې نیزه می په ټولو خلکو کې غوره سړی شهید کړی دی او په همدې نیزه می تر ټولو خلکو بد سړی هم وژلی دی (استیعاب لابن عبد البر ترجمه وحشی بن حرب ﷺ (۲)

یوولسم : (کعب بن زهیر) کعب مشهور شاعر وو دنبی کریم ﷺ په شان کې به یې ناوړه شعرونه ویل حاکم وایې چې دئ هم له هغه خلکو څخه وو چې رسول الله ﷺ یې وینه مباح کړې وه دمکې دفتح په ورځ وتښتېدی وروسته بیا مدینې منورې ته ولاړی او په اسلام

(۱) الاصابه جلد۲/ص/۵۹۵ (۲) [illegible]

سیف لودین کتابتون

مشرف سو او د رسول الله ﷺ په مدح او صفت کې يوه قصيده وويله چې په بانت سعاد سره مشهوره دی (۱) رسول الله ﷺ له هغه ډير خوشاله وو او خپل يو پټوی يې ورکي ..

دوولسم : (**حارث بن طلاطل**) حارث هم د رسول الله ﷺ په شان کې ناوړه ژبه کاروله د مکی د فتح په ورځ علی کرم الله وجهه قتل کي (۲)

ديارلسم : (**عبدالله بن زبعری**) عبد الله ډير ښه شاعر وو د رسول الله ﷺ په شان کې به يې ناوړه شعرونه ويل سعيد بن مسيب رضي الله عنه وايي چې د مکی د فتح په ورځ د ابن زبعری د وژلو حکم وسو دئ نجران ته وتښتيدی وروسته يې بيا توبه وکښه او د نبی کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او اسلام يې راوړی او په عذر کې يې دا شعرونه وويل (۳)

يَارَسُوْلَ الْمَلِيکَ اِنَّ لِسَانِیْ .... راتقٌ مَا فتقتُ اذا انا بُورٌ

اې د الله رسول ﷺ زما ژبه به د هغه کوتاهی پټي وکړی کوم چې ما د خپلی بربادی او ګمراهی په وخت کې رسولی دی

آمَنَ اللحمُ والعظامُ بِرَبِّیْ .... ثم قلبی الشَّهِيْدُ اَنْتَ النَّذِيْرُ

زما غوښې او هډوکو په الله ﷻ باندی ايمان راوړی او بيا زما زړه شاهدی ورکوی چې ته د الله ﷻ زيری ورکونکی او ويروونکی يې (سيرة ابن هشام)

څورلسم : (**هبيره ابی وهب مخزومی**) دئ هم ډير غټ شاعر وو او د نبی کريم ﷺ په ب شان کې به يې ناوړه شعرونه ويل د مکی د فتح په ورځ نجران ته وتښتيدی او هم هلته د کفر په حالت کې مړ سو (سيرة ابن هشام ، اصابه ترجمه هنده بنت ابی طالب هغه چې د ام هانئ په لقب سره مشهوره ده د هبيرة بن ابی وهب ښځه وه

پنځه لسم : (**هنده بنت عتبه**) د ابوسفيان ښځه د اهغه هنده ده چې د احد په ورځ يې د حمزه رضي الله عنه زړه راوکيښ او ينه ځنی و زيبښله هنده هم په هغو ښځو کی وه چې رسول الله ﷺ د دې د وژلو حکم کړی وو هندی رسول الله ﷺ ته ډير تکليفونه رسولی وو هنده د رسول الله ﷺ په خدمت کی حاضره سوه او عذريې وړاندی کی او اسلام يې ومنی کله چې کور ته ولاړه ټول بُتان يې ټوټې ټوټې کړه او داسی يې وويل قسم په الله ﷻ ستاسو په اړه موږ تيروتلی وو (۴) دا پنځه لس تنه هغه مجرمان وو چې د ښنلو وړ نه وو د دوئ ګناه ډيره لويه وه هرچا چې د خپلی ګناه اقرار وکی او توبه يې وکښه او رسول الله ﷺ ته حاضر سو هغه ژوندی پاته سو او څوک چې په خپله سرغړونه او بغاوت باندی پاته سو هغه ووژل سو ، اوس موږ د قريشو څو عزتمند مشران يادوو هغه چې د مکی د فتح په وخت کې د اسلام په سپيڅلی دين مشرف سوی دی

(۱) فتح الباری جلد ۸ /ص /۱۰،، استيعاب /ص ۲۹۷ــــ (۲) فتح الباری ج /۸ /ص ۱۰ــــ (۳) الصارم

سیف لودین کتابتون

دابی قحافه رضی الله تعالی عنه اسلام راوړل ! یعنی دابوبکرصدیق ؓ دپلار

رسول الله ﷺ په مسجدحرام کې ناست و ابوبکرصدیق ؓ سپین ږیری پلار له ځان سره راوستی اودرسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو اودرسول الله ﷺ مخ مبارک ته یې کښېنووی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل (هلاترکت الشیخ فی بیته حتی اکون اناآتیه فیه)
اې ابوبکرصدیق ؓ تاداسپین ږیری ولی په کورکې نه پرېښودی زه به په خپله وهغه ته ورغلی وای ،، ابوبکرصدیق ؓ په ځواب کې ورته وویل (یارسول الله ﷺ هواحق ان یمشی الیک من ان تمشی الیه انت) یارسول الله ﷺ ددې پرځای چې ته زماپلارته راسی داغوره دی چې زماپلارپه خپله ستاپه خدمت کی حاضرسی ، وروسته رسو ل الله ﷺ دابوقحافه په سینه لاس مبارک تیرکې اوداسلام بلنه یې ورکه ، ابوقحافه اسلام ومنی دسپین ږیری والی له کبله یې ټول مخ اوسرسپین وو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل نکریزی کاروه اوداټینګارېې وګی چې تور رنګ هیڅکله مه کاروه (۱)
علامه حلبی په سیرت حلبیه کی لیکی چې کله ابوقحافه ؓ اسلام راوړی نورسول الله ﷺ ابوبکرصدیق ؓ ته مبارکی ورکړه ، ابوبکرصدیق ؓ وویل یارسول الله ﷺ قسم په هغه ذات چې ته یې په حق رالیږلی یې ابوطالب که اسلام راوړی وای نوزماسترګی به ډیریخی سوی وی (۲)

دصفوان بن امیه اسلام راوړل !

صفوان بن امیه دقریشوله مشرانوڅخه ووپه ډیره میړانه اوښخاباندی مشهوروو په میلمستیااومهربانی کې دده ټوله کورنۍ ممتازه وه دده پلارامیه بن خلف دبدرپه جنګ کی ووژل سو دمکی دفتح په ورځ صفوان بن امیه جدی ته وتښتیدی دده دآکازوی عمیربن وهب ؓ نبی کریم ﷺ ته راغلی اودصفوان لپاره یې امن وغوښتی نبی کریم ﷺ امن ورکې اودنښې په ډول یې خپله پګړی یاپټوهم ورکی عمیر ؓ ولاړی صفوان یې له جدی څخه بیرته راوستی اودرسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو صفوان وویل اې محمد ﷺ عمیر ؓ وایې چې تاماته امن راکړی دی ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل بلی هوماامن درکړی دی صفوان وویل ماته دفکرکولولپاره دوې میاشتی وخت راکه ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل زه تاته څلورمیاشتی مهلت درکوم سمدستی نه سو مسلمان مګردحنین په غزاکې له رسول الله ﷺ سره ملګری سو اورسول الله ﷺ ته یې څه زغری اماناتا ورکی کله چې حنین ته ورسیدی نوله ژبی یې داسی الفاظ ووتل (کان یربنی رجل من قریش احب الی من ان یربنی رجل من هوازن) دقریشویوسړی چې زماپالنه کوی هغه زماپه نزد ډیرغوره اوښه دی تردی چې دهوازن څخه یوسړی زماپالنه وکړی .. رسول الله ﷺ چې کله له حنین راستون سو صفوان ته یې بی شمیره پسونه اوبزی ورکړلی صفوان چې کله داپسونه اوبزی ولیدل وې ویل قسم په الله ﷻ دومره سخاله نبی ﷺ پرته بل هیڅوک نه سی کولای له دې وروسته مسلمان سو (استیعاب ، واصابه ترجمه صفوان بن امیه ؓ)

سیف لودین کتابتون

د سهیل بن عمرو ﷛ اسلام راوړل !

نوموړی دمکی له عزتمندو اومخوروخلکوڅخه وو دقریشودخطیب په نامه سره مشهوروو دحدیبیه په سوله کې چې کله نبی کریم ﷺ سهیل ولیدی نو وې فرمایل (قدسهل من امرکم) اوس ستاسو کاراسانه سو

دمکی دفتح په ورځ سهیل خپل زوی عبدالله نبی کریم ﷺ ته ولیږی چې ولاړسه له رسول الله ﷺ څخه زما دپاره امن وغواړه ، رسول الله ﷺ نوموړی ته امن ورکی اوصحابه کرام ﷺ ته یې وفرمایل (من لقی سهیل بن عمرو فلایحد الیه النظرفلعمری ان له عقل وشرف وماًمثل یجهل الاسلام) څوک چې له سهیل بن عمروسره وویني نودته دی په تیزنظرنه ګوری قسم دی زماپه هغه الله ﷻ چې ماته یې ژوندراکړی دی سهیل ډیر هوښیار اوعزتمند دی دسهیل په څیرسړی له اسلام لیری نه سی پاته کیدای ..

سهیل سمدستی اسلام نه راوړی خودحنین غزاته له نبی کریم ﷺ سره ملګری سو اودجعرانه په نامه ځای کې په اسلام مشرف سو (۱)

اوقسم یې وخوړی چې ماچې څومره جنګونه دمشرکینوپه ملګرتیاکي کړی دی هغومره به اوس دمسلمانانوپه ملګرتیاکي کوم اوڅومره مال چې ماپه مشرکینوباندی مصرف کړی دی هغومره به په مسلمانانولګوم (۲)

یوه ورځ دعمرفاروق ﷛ په دروازه باندی ډیرخلک راټول سوی وو له نوموړی سره دملاقات په انتظارولاړوو سهیل بن عمرو ﷛ ، ابوسفیان بن حرب ﷛ اونورد قریشوسپین ږیری هم وو چوکیدار چې کله خبرورکی چې خلک ولاړدي عمرفاروق ﷛ صهیب ﷛ اوبلال ﷛ اونور بدریان ﷛ دننه ور وغوښتل ، سهیل ﷛ ابوسفیان ﷛ اودقریشونورسپین ږیری یې پریښودل ، ابوسفیان وویل دنن په څیرپیښه خوماهیڅکله نه دی لیدلی مریان بلل کیږی اوموږته څوک ګوری لاهم نه په همدی وخت کې سهیل داسی ځواب ورکی چې ددې ورده چې په سروزرو ولیکل سی ، سهیل ﷛ ابوسفیان اودقریشونورومشرانوته وویل اې خلکوستاسوپرمخونودغصی نښی ښکاره وینم ددی پرځای چې تاسوپه نوروباندی غصه وکوی تاسوته په کاردی چې پرخپلوځانوغصه وکوی ځکه دحق دین بلنه تاسوهم ته درکول سوه اوودې خلکوته هم دوئ ددې بلنی په اوریدوسره سمدستی ورمنډه کړه اوتاسوشاته پاته سواست قسم په الله ﷻ کوم شرافت اوغوروالی ته چې دوئ ورمنډه کړی ده ستاسوله هغه شرافته بی برخی کیدل زماپه نزد ددې دروازی تربی برخه کیدلو ډیرزیات سخت دی هغه چې تاسونن ورباندی په غصه یاست اواې خلکو داخلک ترتاسومخکی سوی دی په هغه څه چې تاسوولیدل اوستاسودپاره ددی شرافت اوفضیلت حاصلیدو اوس هیڅ لاره نسته ددې تللی عزت راګرزیدل اوتلافی که څه صورت وی نوهغه یوائی دالله ﷻ په لاره کې جهاد اودالله ﷻ په لاره کی قربانی اوسرورکول دی ددې دپاره تیارسی کیدای سی چې الله تعالی به تاسوته دشهادت عزت اونعمت درکړی

(۱)

سیف لودین کتابتون

سهیل خپل زړه راښکونکی تقریرپای ته ورسوی او ولاړسو او دهغه وخت څخه دالله ﷺ په لاره کی دجهاد لپاره ودریدی له خپلی کورنۍ او اولادو سره یو ځای درومیانو دمقابلې لپاره شام ته روان سو او دیرموک په جنګ کی شهید سو او یو شمیر نور خک بیا وایې چې دعمواس په طاعون کی وفات سو بهرحال خپل هدف ته ورسیدی دطاعون مرګ هم شهادت دی (استیعاب لابن عبدالبر ترجمه سهیل بن عمرو ؓ)

دابولهب ددواړو زامنو عتبه او معتب اسلام راوړل!

عباس ؓ وایې دمکی له فتح وروسته رسول الله ﷺ ماته وفرمایل چې ستا دواړه وریرونه عتبه او معتب دابولهب زامن چیری دی؟ دوئ خو مانه دی لیدلی چې دوئ دواړه چیری دی؟ ماورته وویل چې دقریشو کوم مشرکین چې پټ سوی دی له هغوئ سره دوئ دواړه یوی خواته تللی دی رسول الله ﷺ وفرمایل چې ولاړسه او دواړه ماته راوله زه هم سمدستی دنبی کریم ﷺ په لاړښوونه سپور سوم او دعرنه په نامه ځای ته ولاړم هلته می دوئ دواړه پیدا کړه او له ځای سره می راوستل، رسول الله ﷺ دوئ ته اسلام وړاندی کی دوئ دواړو اسلام ومنی او له رسول الله ﷺ سره یې بیعت وکی وروسته نبی کریم ﷺ ولاړسو او دواړه یې ترلاس ونیول او دکعبې شریفی دروازی ته نژدی ملتزم ته راغلی او تر ډیره وخته یې دعا وکړه کله چې له هغه ځایه راستون سو ما د رسول الله ﷺ په مخ مبارک دخوښي آثار ولیدل، ما پوښتنه وکړه چې یا رسول الله ﷺ الله تعالی دی تا همیشه خوشاله لری زه نن تا خوشاله وینم؟ رسول الله ﷺ وفرمایل چې ماله لوی څښتن څخه داغوښتنه کړې وه چې زما دا کاکا دواړه زامن ماته راکړی نو الله تعالی دوئ دواړه عتبه او معتب رضی الله عنهما ماته راکړه او راته هبه یې کړه (۱)

دمعاویه بن ابی سفیان رضی الله تعالی عنه اسلام راوړل!

یو شمیر خلک وایې چې معاویه ؓ دمکی په فتح کې اسلام راوړی دی خو صحی خبره داده چې دحدیبیه له سولی وروسته یې اسلام راوړی نو موړی خپل اسلام پټ ساتلی وو او دمکی په فتح کې هغه په ښکاره اسلام ومنی، دټولو مسلمانانو مور ام حبیبه دابی سفیان لور دمعاویه ؓ خور ده او دمور وړور ماماوی ځکه معاویه ؓ دټولو مسلمانانو ماما دی او څنګه چې درسول الله ﷺ له اهل بیت او خپلوانو سره مینه ساتل په مؤمن باندی فرض دی دغه رنګه درسول الله ﷺ له خسرګنۍ او دخسرګنۍ له خپلوانو سره هم مینه او محبت پر مسلمانانو فرض او لازم دی،، ابو سفیان بن حرب ؓ دنبی کریم ﷺ دبی بی مبارکی ام حبیبه ؓ پلار دی او معاویه ؓ دام حبیبه ؓ وړور دی له دوئ سره مینه ساتل فرض دی او له دوئ سره کین او ښمنی ساتل حرام او ناروا دی او ترا سلام مخکی چې هرڅه سوی دی هغه ټول ښښل سوی دی او ترا سلام مخکی خبری کول دقرآن او حدیث له مخی قطعاً ناروا دی او منع دی...

سيف لودين کتابتون

دمندرانو (بتخانو) دنړولو لپاره ځو ټولګی ولیږل سو !

رسول الله ﷺ دمکی له فتح وروسته تقریباپنځه لس ورځی په مکه کې پاته سو کوم بتان چی په کعبه کې وو هغه یې مات کړه اوداسی یې وفرمایل (من کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلا یدع فی بیته صنما) ځوک چی په الله ﷻ اوقیامت پرورځ ایمان لری هغه دې په خپل کورکې یوبت هم نه پرېږدی ،، کله چی مکه مکرمه له بتانوپاکه سوه اودهغې ټول بتان مات سو اودباندی وغورزول سو نودمکی په شاوخواسیموکی دبتانودنړولولپاره کوچنی ټولګی ولیږل ..

دعزی بت اوسواع بت نړيدل !

دروژی په پنځه ویشتمه ۲۵ خالدبن ولید ﷺ له دیرش سپروسره دعزّی دنړولولپاره نخلته ولیږی سوله مکی بیاترنخله پوری دیوی شپي لاره وه اوعمروبن العاص ﷺ یې دسواع بت دنړولولپاره ولیږی همدابت بیاله مکی مکرمی څخه درې میله لیری وو عمروبن العاص ﷺ چی کله هغه ځای ته ورسیدی نودهغه بت ملنګ یامنجور عمرو ﷺ ته وویل ته په څه نیت راغلی یې عمروبن العاص ﷺ وویل زه درسول الله ﷺ په امردې بت دنړولولپاره راغلی یم ملنګ چی کله داخبره واوریده وې ویل ته هیڅکله داکارنه سې کولای سواع خدای به تاپه خپله له دی کاره وګرزوی ، عمروبن العاص ﷺ وویل افسوز دی ته اوس هم په دی ګمراهی کی ورک یې آیابت څه اوری اوکه وینی چی مابه له دی کاره وګرزوی داخبره یې وکړه اوپه بت یې یودرودګذاروکي چی په دې ګذاردملنګ سواع خدای لاندی پرځمکه راولویدی اومات سو عمروبن العاص ﷺ ملنګ ته وویل څنګه سو تاددروغ خدای ولیدی چی څنګه پرځمکه راپریوتی ملنګ هم سمدستی مسلمان سو اووې ویل اسلمت لله ، ماد الله ﷻ لپاره اسلام راوړی دی ..

دمنات بت دړی وړی سو !

اودروژی په ۲۶ سعدبن زیداشهلی ﷺ دمنات دنړولولپاره مشلّل ته ولیږل سو اوشل تنه سپاره له ده سره ملګری کړه (۱) لنډه داچی دروژې مبارکی ټوله میاشت دبتانوپه ماتولویعنی دالله ﷻ له ځمکی څخه دکفراوشرک دمرداری په پاکولو تیره سوه ..

اودکوچنی اخترپه میاشت کې داسلام دپرمختګ اودحق دبلنی لپاره درې نیم سوه مهاجرین اوانصار ﷺ له خالدبن ولیدسره دکمان په نامه سیمی لاندی برخی ته ولیږل ، په دې سیمه کی بنی جذیمه یلملم ته نژدی دحوض په غاړه کې اوسیدل دهغه نوم عمیصاء وو کله چی دوئ هلته ورسیدل نوخالدبن ولید ﷺ ولاړی اودوئ ته یې داسلام بلنه ورکړه دوئ دویری اوخفګان په حالت کی وو په ښکاره خویې داونه ویل چی موږ مسلمانان یو بلکې داسی یې وویل (صَبَاْنَا صَبَاْنَا) موږ خپل مخکی دین پریښودی ، خالدبن ولید ﷺ داځواب کافی ونه ګڼی اوپردوئ یې بریدوکی یوشمیرپکی ووژل سواوپاته بندیان سو کله چی رسول الله ﷺ ته راورسیدل اوپیښه یې بیان کړه نورسول الله ﷺ لاس پورته کې اودوه ځله یې داوفرمایل (اللهم انی ابرأ الیک مما صنع خالد، بخاری وفتح الباری جلد۸/ص/۴۵) اې الله ﷻ زه له هغه څه بیخی بیزاره یم کوم چی خالد ﷺ کړی دی وروسته یې علی کرم الله وجهه ته روپۍ ورکی اوبنوجذیمه ته یې ولیږی ددی لپاره چی دوئ ته دیت دمړوپور ورکړی علی ﷺ ولاړی اودوئ ته یې دیت ورکی اودخبری پلټنه یې وکړه کله چی بیرته راغلی نوټوله پیښه یې بیان که رسول الله ﷺ بی حده ډیر خوشاله سو اودایې وفرمایل (اَصَبْتَ وَاَحْسَنْتَ) تاډیرښه اودحق برابر کاروکی (۲)

سيف لودين كتابتون

دهجرت اتم کال دکوچني اختر شپږمه دشنبې ورځ دحنين، اوطاس، اوطائف غزاګانې

حنين کې دهوازن اوثقيف
حنين ديو ځای نوم دی دمکې او طائف په مينځ کې پروت دی په
قبيلې ميشتې وې دوئ ډير جنګيالي اوپه غشوويشتلو کې ډير پياوړي و رسول الله ﷺ چې
کله مکه فتح که له دوئ سره دااندېښنه پيدا سوه چې هسې نه رسول الله ﷺ پرموږ باندې
بريد وکي دوئ مشوره سره وکړه پرېکړه پردې وسوه چې مخکې تردې چې مسلمانان
پرموږ بريد وکي موږ بايد موږ پر دوئ بريد وکو وددوئ مشر مالک بن عوف نصري دشل
زره لښکر په مشرې له حنين څخه راروان سو او پر مسلمانانو دبريد نيت يې درلودی له دوئ
سره يو تجربه کار سپين ږيری دريد بن صمه هم وو دومره سپين ږيری وو چې نه يې څه ليدل
اونه يې حرکت کولای سو مګر له ډيره وخت دجنګو تجربه درلوده ځکه يې هغه هم له ځان
سره کې ددې لپاره چې له نوموړی څخه مشوری واخلی ،، مالک بن عوف ټولو خلکو ته
امر کړی وو چې له هرسړی سره به خپله کورنۍ اواولادونه وی ددی لپاره چې ښه په کلکه
مقابله وکړی اوهيڅوک له خپلو اولادو اوبچيانوونه تښتی دوئ حرکت پيل کله چې
اوطاس ته ورسيدل نو دريد پوښتنه وکړه چې داکوم ځای دی خلکو ورته وويل دااوطاس
دی دريد وويل داځای دجنګ لپاره ډير برابر او مناسب دی ځکه ددې ځای ځمکه نه ډيره
سخته ده اونه ډيره نرمه ده چې پښې پکې ننوزي وروسته يې وويل داڅه دی چې زه اورم
داوښانو غرغړی دخرو هنګاری اودپسو اوبزو آوازونه اودماشومانو ژړا اوفرياد اورم ؟
خلکو وويل مالک بن عوف ټول خلک له ښځو او ماشومانو اومال له هرڅه سره راوستلی
دی ددی لپاره چې خلک دخپلو ښځو اوماشومانو دساتنی لپاره ښه وجنګيږی ،،
دريد وويل دايې ډير غلط کار کړی دی آياماته خوړونکي به داټول شيان له ځان سره وړی،
په جنګ کې له توری اونيزی پرته بل هيڅ شئ په کار نه دی که تاسو ماته وخوړه نو دټول
کورنۍ اواولاد درسوايی سبب به وی ښه داده چې ټول ښځی اوماشومان دی بيرته وليږل
سی که بريالی سو نوټول به راولو اوکه مو ماته وخوړه نو ماشومان او ښځی به ددښمن له
لاسه خوندی وی ، مالک بن عوف ته يې داخبره وکړه خو هغه ونه منله اووې ويل قسم په
الله ﷻ که هيڅ وخت زه له خپلی رايه واوړم ددی سپين ږيری دماغ خراب سوی دی په هيڅ
نه پوهيږی هوازن اوثقيف که زما په رايه راسره ځی نوښه به وی اوکه داسی نه وی نوزه
اوس دستی ځان وژنم ، ټولو وويل موږ تيار يو او ستاسره يو !
رسول الله ﷺ چې کله ددوئ په حالاتو خبر سو نو عبدالله بن ابی حدر اسلمی رضی الله عنه يې دپلټنې
لپاره وليږی عبدالله رضی الله عنه يوه يادوې ورځی هلته تيری کی اوټول حالات يې وڅيړل اوراغلی
ونبی کريم ﷺ ته يې ددوئ دجنګ دتياری خبرورکي ، رسول الله ﷺ هم سمدستی دجنګ
لپاره تياری پيل کی له صفوان بن اميه څخه يې سل زغری په خواست وغوښتی اوصحابه
کرام رضی الله عنهم ته يې هم دتياری حکم وکی کله چې لښکر تيار سو دادهجرت اتم کال دکوچنی
اختر شپږمه ۶ اودشنبی ورځ وه رسول الله ﷺ ده دوولس زره کسانو له لښکر سره له مکې
ووتی او دحنين په لوري روان سو لس زره ...

سیف لودین کتابتون

له مدینې منورې څخه له رسول اللهﷺ سره یوځای راغلي وو اویو شمیر نوي خلک هم په لښکرکې وو چې تراوسه یې لا اسلام نه وومنلی ، (سیرة ابن هشام)
ده دوولس زره تنو دالوی لښکر چې کله د حنین په لوري روان سو نو دیوه سړي له ژبې دالفظ ووتی (لن نغلب الیوم من قلة) نن ورځ به موږ د لږوالي له کبله ماته نه خورو ،، په دې خبره کې د فخراو ځان خوښونې بوی وو چې دا د الله ﷻ نه دی خوښ داسبا بو په دې نړۍ کې کله لږوالی هم د ماتې لامل وی ځکه یو شمیر صحابه ﷺ چې ودومره لوي لښکر ته وکتل نو له ژبې څخه یې داالفاظ ووتل چې نن ورځ به موږ د لږوالي له کبله ماته نه خورو یعنی که نن موږ ماته وخوړه نو دا زموږ ماته به د لږوالي له امله نه وي بلکې دالله ﷻ له لوري به وی بریالیتوب اومرسته دهغه په لاس کی ده مګر دالله ﷻ په دربارکې دا خبره ناخوښه سوه ځکه په دې خبره کی داوهم وو چې دکامیابی اوغلبی راز په ډېروالي کې دی خصوصا بیا هغه خلک چې دتوحید منزلونه اودرسالت اونبوت له روښانه درباره تیرسوی دی دهغوئ دیوه سړي له ژبې څخه هم داسې دوهم خبره وتل ددوئ له شان سره مناسب نه وه خوکیدای سی چې کوم خلک چې دمکې په فتح کې مسلمانان سوي وو اودنبي کریم ﷺ ملګري وو اوتراوسه لاددوئ په زړوکې اسلام نه ووټینګ سوی دادهغوئ دملګرتیا آثروو
په سنن نسائي کی راغلي دی چې یوه ورځ دسهارپه لمانځه کې رسول الله ﷺ سورة روم لوستی دقرائت په مینځ کې رسول الله ﷺ ته څه ګډوډی او اشتباه پیښه سوه کله چې له لمانځه خلاص سو نوداسې یې وفرمایل (مابال اقوام یصلون معنا لایحسنون الطهور وانما یلبس علینا القرآن اولئک) څه حال دی دهغه خلکو چې زموږ سره په لمانځه کی دریږي اواودس په سمه طریقه نه کوي داسې خلک په موږ باندې په قرائت کې ګډوي راولي .
ددې حدیث شریف څخه داپه ډاګه کیږي چې دنبي کریم ﷺ دزړه مبارک دخړوالي اودقرائت دګډوډ والي لامل یوائې دهغه خلکوملګرتیاوه چې دوئ داوداسه د پوره آداب اودمستحباتو لحاظ نه ووساتلی معاذالله داسې نه وو چې په هغوئ کې څوک بې اودسه وو ټول په اوداسه وو خودیو شمیرلمونځ کونکوپه اوداسه کې یوائې دآدابو اومستحباتو کموالي وو چې په دې سره دنبي کریم ﷺ زړه مبارک متأثرسو ،، اوس له دې څخه دمشرکینو اوبدعتیانو زندیقانو اوملحدینو او امریکایانو داثراوضرر اندازه تاسوپه خپله وکوی .. علامه طیبي طیب الله وجعل الجنة مثواه ددې حدیث په وضاحت کې لیکي چې دسنتو او آدابو رڼااوبرکات بل ته ځي اودهغه په پریښودسره دغیبی فتحو دروازې بندیږي اوپه یو شمیروختو کی ددې اثرنوروته هم ورځي چې ددې سړي په وجه بل سړي هم له نیکیو برکتو اوتجلیاتو څخه بې برخې کیږي ، په صحابه کرام ﷺ باندې چې کوم رنګ وو هغه دسرور کائنات علیه افضل الصلوات والتحیات دملګرتیا اثروو مګر په دې وخت کې دپردو خلکو دملګرتیاداثرله کبله یې بې اختیاره داکلمه له ژبې ووتله

سیف لودین کتابتون

لنډه داچي د الله ﷻ داخبره خوښه نه سوه اودبرې پرځای دماتې شيره وليدل سوه لکه چي الله تعالی فرمايي ﴿وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ﴾(۲۵) ﴿ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ﴾(۲٦) سورة التوبه)

ژباړه : دحنين په ورځ چي کله تاسو خپل ډيروالي په ځان باوري کړلاست نو هغه ډيروالي تاسو ته هيڅ ګټه ونه رسوله او دالله ﷻ فراخه ځمکه پرتاسو تنګه سوه بيا تاسو دښمن ته شا واړوله او وتښتيدلاست تردی وروسته الله ﷻ خپل خاص آرام په خپل رسول ﷺ باندی او دمؤمنانو په زړوباندی نازل کی او داسی لښکريې راکښته کي چي تاسو نه ليدی او کافرانو ته يې سزا ورکړه او دا سزاء د کافرانو ده ..

اسلامی لښکردسه شنبی په ورځ ماښام دحنين ډګر ته ورسيدی دهوازن او ثقيف قبيلی جنګيالی په کمن کې پټ ناست وو ، مالک بن عوف دوئ ته مخکی دالارښوونه کړی وه چی دتوروپوښونه وکاږی اوشيری يې کی ليری وغورزوی اسلامی لښکرچی کله ودغه ځای ورسيدی نوپه يوه دم شل زره تورو اونيزو پردوئ بريدوکی توره شپه وه پراسلامی لښکرپه يوه ځل دشل زره تورو بريدوسو چی په پايله کې دمسلمانانو لښکر خواره واره سو اويوائی لس يادوولس فدايان له رسول الله ﷺ سره پاته سو په دوئ کې ابوبکرصديق ؓ عمرفاروق ؓ علی ؓ اوعباس ؓ اوفضل بن عباس ؓ اواسامه بن زيد ؓ اوځه نورفدايان وو عباس ؓ د رسول الله ﷺ دقچری قيزه نيولی وه او ابوسفيان بن حارث ؓ دپالان نيولی وه ،، کوم خلک چی له مکی نوی راغلی وو هغو سمدستی په خپل مينځ کې خبری پيل کي ، ابوسفيان بن حرب دمعاويه ؓ پلارووېل اوس به دا ماته خوړلی ترسينده پوری نه دريږی او کلدة بن حنبل ډير په خوشالی په زوره ووېل نن جادوګری ختم سوه ، صفوان بن اُميه سره له دی چی تراوسه لامشرک وو ووېل خوله بنده که الله ﷻ دی ستاخولي بندی کي زما په نزدداډيره غوره ده چی دقريشويوسړی زما پالونکي وی تردی چی دهوازن يوسړی زمامشراوپالونکی وی شيبه بن عثمان بن ابی طلحه ووېل نن به زه له محمد ﷺ څخه دخپل پلاربدله اخلم دده پلارپه احدکی وژل سوی وو کله چی هغه درسول الله ﷺ وخواته رامخ ته سو نوسمدستی غشی پرواوريدل اوونبی کريم ﷺ ته نه راورسيدی پوه سوچی دالله ﷻ له لوری دده ساتنه کيږی وروسته بيا په اسلام مشرف سو

لنډه داچي کله دهوازن اوثقيف خلک له مورچو راووتل يودم يې بريدوکی اوپرمسلمانانوله هرلوری غشی دباران په څيرواوريدل دمسلمانانو پښي وښويدی يوائي څوفدايان خاص ملګری له رسول الله ﷺ سره پاته سو ، رسول الله ﷺ دريې ځله ناره وکړه اې خلکو دې خواته راسی زه دالله رسول ﷺ يم او محمد بن عبدالله ﷺ يم

انا النبی (۲) لا کذب .... انا ابن عبدالمطلب ..

(۱) تاريخ ابن اثير ——— (۲) صحيح بخاری ، ومسلم)

سیف لودین کتابتون

زه رښتینی نبی یم الله ﷻ چی له ماسره د فتح کومه وعده کړې او زما د ساتنی ژمنه یې کړې ده (۱) هغه بیخي حق ده په هغه ژمنه کې د دروغو امکان هم نسته او زه د عبدالمطلب زوی یم ، د عباس ؓ ډیر لوړ غږ وو رسول الله ﷺ نوموړی ته حکم وکی چې مهاجرین او انصارو ؓ ته ناره وکړه هغه په لوړ آواز دا نعره وکړه (یامعشرالانصار یا اصحاب السمرة) اې انصارو ؓ ټولې اې هغه خلکو چې ترونه لاندی مو بیعت رضوان کړی وو ،، د دې آواز په اوریدو سره صحابه کرام ؓ د پتنګانو په شیر د نبوت د شمع په شاوخوا راوګرزیدل رسول الله ﷺ پر مشرکینو باندی د برید امر وکی کله چې سخت جنګ پیل سو او د جنګ په ډګر کې د تورو بریښناوی پورته سوی رسول الله ﷺ یو موټی خاوری راواخیستی او د کافرانو و خواته یې وپاشلی او دایې وفرمایل (شاهت الوجوه (رواه مسلم) تور سو دا مخونه ،،، د صحیح مسلم په بل روایت کی راځي چې رسول الله ﷺ دیوه موټی خاوری له ویشتلو وروسته دا وفرمایل (انهزموا ورب محمد) قسم په رب ﷻ د محمد ﷺ دوئ ماته وخوړه هیڅ یو مشرک پاته نه سو چې د هغه په سترګو کې دی د هغه یوه موټی خاوری ګرځ نه وي لویدلی او یو ساعت لا نه وو تیر سوی چې د ښمنانو ماته وخوړه او پښې یې د جنګ له میدان وښویدی ډیر وتښتیدل او په زرهاوو بندیان سو په دی اړه الله تعالی دا آیت نازل کی

﴿ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئاً وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴾(۲۵)﴿ ثُمَّ أَنزَلَ اللهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُوداً لَّمْ تَرَوْهَا وَعذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُواْ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ﴾(۲۶) سورة التوبه)

له یوه لوری رسول الله ﷺ خاوره د کافرانو پر مخ وشیندله له بل لوری د اسلام سپاهیانو یوائې د الله ﷻ په مرسته باور وکی او بریدې پیل کې په یوه ګړی ماته په بری بدله سوه د هوازن قبیلی پهلوانان سره له ډیره زوره او دبدبی له میدان وتښتیدل مسلمانانو دوئ بندیانول د دښمن اویاتنه ووژل سو او په زرګونو نور بندیان سو او بې شمیره مالونه او شتمنی د مسلمانانو لاس ته ورغلی (۲)

جبیربن مطعم ؓ روایت کوی چې د هوازن له ماتی لږ مخکې یو تور پټو ماولیدی چې له آسمان راښکته سو هغه پټو زموږ او د دښمنانو په مینځ کې ولویدی ناڅاپه له دې پټو تورمیږیان راووتل او د جنګ په میدان کې خواره واره سو ماته د هغوئ په ملائکو کیدو کې یوه ذره شک هم نه و کله چې دوئ راښکته سو د ښمنانو هم ماته وخوړه (۳) له ماته خوړلو وروسته د ثقیف او هوازن مشر او سپه سالار مالک بن عوف نصری له یوی ډلی سره وتښتیدې اوطاس ته یې ځان ورسوی هم هلته یې پناه واخیسته او څه خلک بیا نخله ته وتښتیدل ،رسول الله ﷺ د ابوموسی اشعری ؓ اکا ابوعامر اشعری ؓ له لږ فوځ سره د دوئ د مخنیوی لپاره اوطاس ته ولیږی کله چې دوئ هلته ورسیدل سمدستی جګړه

---

(۱) اشارة الی قوله تعالی (والله یعصمک من الناس)
(۲) عیون الاثر جلد ۲ /ص /۱۹۲)
(۳) فتح ال[illegible]

سیف لودین کتابتون

پیل سوه درید بن صمه سپین ږیری ګمراه دربیعه بن رفیع ﷺ په لاس ووژل سو ، دنوموړی زوی سلمه بن درید ابوعامراشعری ﷺ په ګوډه (کونی) په غشی وویشتی چی په همدی سره شهیدسو ابوموسی اشعری ﷺ دجګړی ډګرته راوډانګل اوبیرغ یې پورته کې اوپه ډیره میرانه یې جګړه وکړه اودخپل آکا قاتل سلمه بن دریدیې ووژی جګړی ترهغه وخت دوام وکی ترڅو الله تعالی مسلمانانوته بری ورکي (۱)

ابوعامراشعری ﷺ دشهید کیدوپه وخت کې ابوموسی اشعری ﷺ ته وویل اې وراره ، رسول الله ﷺ ته زماسلام وایه اوداورته ووایه چی زمالپاره دبښنې دعاء وکړی . ابوموسی اشعری ﷺ وایې کله چی زه راغلم اودجنګ قصه می رسول الله ﷺ ته بیان که اودخپل آکاابوعامراشعری ﷺ پیغام می هم ورته ورسوی رسول الله ﷺ سمدستی داوداسه لپاره اوبه راوغوښتی اودس یې وکی اوددعاء لپاره یې لاسونه پورته کړه داسی دعاءیې وکه (اللهم اغفر لعبید ابی عامر) اې الله ﷻ عبیدابوعامر ﷺ ته بخښنه وکوی بیایې داد‌عاوکړه (اللهم اجعله یوم القیامة فوق کثیر من خلقک من الناس) اې الله ﷻ دقیامت په ورځ یې ترډیرو لوړکي ، ابوموسی ﷺ وایې ماغوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ زمالپاره هم دبخښنی دعاء وکړه ، رسول الله ﷺ وفرمایل (اللهم اغفرلعبدالله بن قیس ذنبه وادخله القیامة مدخلا کریما) اې الله ﷻ دعبدالله بن قیس ﷺ ګناهونه وبخښي اودقیامت په ورځ یې دعزت په ځای کې داخل کی (بخاری شریف باب غزوة اوطاس)

دطائف محاصره !

رسول الله ﷺ دحنین دغنیمت مالونه اوبندیانو په اړه حکم وکی چی په جعرانه کې دی یوځای سی اوپه خپله طائف ته ولاړی اودطائف تر تلومخکی یې طفیل بن عمرو دوسی ﷺ له ځوملګروسره دیوه غټ بت چی په (ذوالکفین) سره مشهوروو ولیږی چی هغه بت وسوځوی ، طائف ته درسول الله ﷺ له رسیدو څلورورځی وروسته طفیل بن عمرودوسی ﷺ هم ورسیدی اویومنجنیق یې هم له ځان سره راوړی (زرقانی جلد ۳ /ص/۲۸، عیون الاثر جلد ۲ /ص/۲۰۰)

مالک بن عوف نصری دهوازن قیلی مشرقمندان له خپل فوځ سره درسول الله ﷺ تررسیدومخکی دطائف کلاته ننوتلی وواودروازه یې په ځان پسی بنده کړی وه او دډیر وخت لپاره یې غله اوخوراکی شیان په کلاکی زیرمه کړی وو رسول الله ﷺ چی کله طائف ته ورسیدی دوئ یې محاصره کړل اودمنجنیق په ذریعه یې پردوئ کاڼي واورول دوئ دکلاپردیوالو غشی ویشتونکی وخیژول هغوئ داسی سخت غشی وویشتل چی ډیرمسلمانان ټپیان سو اودولس تنه شهیدان سو ، خالدبن ولید ﷺ دوئ ته دلاس په لاس جګړی بلنه ورکړه مګر دوئ په ځواب کې ورته وویل چی موږ ته دکلادکښته کیدو هیڅ اړتیانسته دډیروکلوغله موږ زیرمه کړی ده کله چی داختمه سی بیابه موږ له تورو سره

(۱) عیون الاثر جلد ۲ /ص/۱۹۲

سيف لودين كتابتون

دربنکته کېږو مسلمانان په منجنیق کینستل اودديوال دسورى کولوهڅه يې وکړه مګر کافرانوله لوړی خوا داوسپنی ګرم سیخان پر واورول مسلمانان بیرته شاته راغلو رسول الله ﷺ چی کله داحالت ولیدی نودباغودپریکولوامریې وکی ، د کلاخلکو رسول الله ﷺ ته دالله ﷻ اودخپلوی وسیله مخ ته کړه اووې غوښتل چی تاسوباغونه مه پریکوی ، رسول الله ﷺ وفرمایل : زه دالله ﷻ اودخپلوی په وجه دوئ پرېږدم وروسته يې دکلاديوال ته نژدی دِږغ وکی چی که مریئ له کلاراکښته سی اومورته راسی هغه به آزادوی په دی ترځ کی دوولس یادیارلس مریان راکښته سول اود مسلمانانو خواته راغله په همدې وخت کې نبی کریم ﷺ یوخوب هم ولیدی هغه داسی چی دشیدو یوه پیاله زمامخ ته راوړل سوه یوچرګ راغلی په دې پیاله کې مښوکه ووهله او هغه شیدی واوښتلی ،رسول الله ﷺ داخوب ابوبکرصدیق ؓ ته بیان کي ، ابوبکر ؓ وویل غالباً داکلااوس نه سی فتح کیدای رسول الله ﷺ نوفل بن معاویه دیلمی راوغوښتی اوپوښتنه يې ځنی وکړه چی ستاڅه رایه ده ، نوفل وویل یارسول الله ﷺ ګیدړه په خپله ځاله کې ده که بنده سی نوبه ونیول سی اوکه پاته سی نوتاته هيڅ تاوان نه سی رسولای (۱)

دابن سعدپه روایت کی راغلی دی چی عمرفاروق ؓ راغلی ونبی کریم ﷺ ته یې وویل اې دالله ﷻ نبی ﷺ ودې خلکوته ښیرا وکړه، نبی کریم ﷺ وفرمایل الله ﷻ ماته اجازه نه ده راکړی ، عمرفاروق ؓ وویل بیامورته له هغوئ سره دجنګیدو څه ضرورت دی ، رسول الله ﷺ دروانیدو حکم وکي اودتلوپه وخت کې یې دادُعاوکړه (اللهم اهدثقیفاً وائت بهم (۲) اې الله ﷻ ته ثقیف ته سمه لاروښیي اودوئ ماته مسلمانان راولی ، اوهمداسی وسوځکه وروسته داکلاپه خپله فتح سوه ټول خلک یې مسلمانان سو اومالک بن عوف نصری چی ددوئ مشرقمندان وو هغه په خپله درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوپه اسلام مشرف سو.

دحُنین دغنیمتوویشل !

رسول الله ﷺ له طائف روان سو دمیانی په پنځمه جعرانه ته ورسیدی هغه ځای ته چی دغنیمت مال راغونډسوی وو ،، شپږزره بندیان اوڅلیرویشت زره اوښان اوڅلویښت زره پسونه اوبزی اوڅلورزره اوقیه سره زر داټول شیان راټول سوی وو رسول الله ﷺ ترلس ورځی زیات دهواز ن دخلکوانتظار وکی چی کیدای سی دوئ دخپلوخپلوانو ښځواوماشومانودخلاصون لپاره راسی مګر کله چی ترلس ورځی وروسته بیاهم څوک نه راغلی ترلس ورځي وږروسته رسول الله ﷺ دغنیمت مال په غانمینوباندی وویشی (۳)

(۱) زرقانی جلد ۳ /ص/ ۲۸)

(۲) الطبقات الکبری لابن سعد جلد ۲ /ص/ ۱۱۵)

سيف لودين كتابتون

په خذمت کې حاضرسو په دوئ دغنيمت له ويشلو وروسته دهوازن پلاوی درسول اللهﷺ په لاس مبارک يې بيعت وکی وروسته يې کې نه کسانو اسلام ومنی او دنبی کريمﷺ رضاعی مور حليمه دخپلو مالو او ښځو او ماشومانو دسپارلو غوښتنه وکړه دنبی کريمﷺ سعديه هم له همدې قبيلې ښځه وه ددې قبيلې خطيب اومشرزهيربن صُرد ولاړسو داسې غوښتنه يې وکړه چې يارسول اللهﷺ په دې بنديانو کې ستاترورياني خاله ګانی او دايانې دي (يعنی تئ ورکونکی ښځې) که ديوپاچايا اميرسره زموږ داسې اړيکې وای نو ډيره مهرباني به يې راسره کړې وه خوته ترټولو غوره يې پرموږ چې کوم غم راغلی دی په هغه ته ښه خبريې ته پرموږ احسان وکړه اللهﷻ به پرتا احسان وکړي او داشعريې ولوستی

امنتن علينا رسول اللهﷺ فی کرم .... فانک المرء نرجوه وننتظر

انشاء الله پوره قصيده به دپلاوو په بيان کې راسی .

رسول اللهﷺ ورته وفرمايل ماستاسوډير انتظاروکی اوس خو غنيمتونه ويشل سوی دی له دووشيانويوغوره کي ، بنديان ، که مال ، پلاوی وويل تاموږته دمال اونسب اختيارراکړی دی موږنسب خوښوو داوښانواوپسوپه اړه تاته هيڅ هم نه وايو .. رسول اللهﷺ وفرمايل : زمااوزمادکورنۍ بنی هاشم اوبنی المطلب په برخه چې څه راغلی دی هغه ټول ستاسودی مګر دنورو مسلمانانوپه برخه چې څه ورغلی دی دهغه په اړه دماپښين له لمانځه وروسته تاسوراشي ودريږۍ ويناوکړی زه به ستاسو شفاعت وکړم ، دماپښين له لمانځه وروسته دهوازن دپلاوی خطيبانو فصيح اوبليغ تقريرونه وکول اودخپلوبنديانودآزادولوغوښتنه يې وکړه ، تردوئ وروسته رسول اللهﷺ خطبه ولوسته لومړی يې داللهﷻ حمداوثناوويل وربسی يې وفرمايل چې اې خلکو داستاسوورونه دهوازن قبيلې دی مسلمانان سوی دی اوراغلی دی داغوښتنه لري ماخپل اودخپلې کورنۍ برخه دوئ ته ورکړې ده زه مناسب ګڼم چې نورمسلمانان هم ددوئ بنديان خوشې کي کوم سړی چې دزړه په خوشالۍ سره داکاروکوی نوغوره ده اوکه داسې ونه کوی نوزه هغه سړی ته دخپل بندی عوض اوبدله ورکوم ، کله چې دوئ داخبره واوريده ټولوپه ډيره خوشالۍ دهوازن ټول بنديان خوشې کړل اودرسول اللهﷺ په يوه خبره دهوازن شپږزره بنديان له بنده خلاص سوه (۱)

ددې جګړې په بنديانو کې درسول اللهﷺ رضاعی خور شيماء رضی الله عنها هم وه خلکو چې کله هغه ګيرکه دی وويل زه ستاسو دپيغمبر عليه السلام خوريم . خلکوشيماء رسول اللهﷺ ته راوستله شيماء وويل اې محمدﷺ زه ستاخوريم اونښه يې وښوده چې په ورکتوب کې يوځل تاپه ماغاښ لګولی دی دهغه دانښه موجوده ده رسول اللهﷺ وپيژندله اومرحبايې ورته وويل اودناستې لپاره يې خپل څادر ورته وغوړوی اوډيرخوشالۍ له املهيې په سترګو کې

(۱) فتح الباری جلد ۸ /ص/ ۳۶)

سیف لودین کتابتون

اوښکي راغلی وروسته یې و فرمایل که ته زماسره پاته کیدل غواړې نوپه ډیردرناوی اوعزت به دې ساتم اوکه خپلی قبیلی ته تګ غواړې نوستاخوښه ده شیماء وویل زه خپل قوم ته تلل غواړم ، اومسلمانه سوه . رسول الله ﷺ دتګ په وخت کې دې ته څه اوښان اوپسونه اودرې مریان اویوه مینځه ورکړو (اصابه ترجمه شیماء جلد ۴ /ص / ۳۴۴)

دمکی په فتح کې چی دقریشوکوم مشران په اسلام کې داخل سو وو هغوئ تراوسه ګډوډه عقیده لرله ایمان یې په زړوکې ټینګ سوی نه وو ودوئ ته دقرآن په اصطلاح مؤلفة القلوب ویل سوی رسول الله ﷺ دغنیمتو دویشلوپه وخت کې ودې مؤلفة القلوب ته ډیر انعامونه ورکړل چاته یې دغنیمت له مال څخه سل اوچاته دوه سوه اوچاته درې سوه اوښان ورکړه چی تفصیلی بیان په فتح الباری اوزرقانی کی سوی دی)

لنډه داڅه غنیمتونه چی ورکړل سوه هغه دقریشومخورو اومشرانوته ورکړل سو انصارو ﷺ ته هیڅ ورنه کړل سوه ځکه دانصارو ﷺ دیوشمیرځوانانوله ژبی داالفاظ ووتل چی رسول الله ﷺ خوقریشوته غنیمتونه ورکړه اوموږ یې پریښودواوسره له دی چی زموږ ترتورو اوس لادهغوئ وینی څاڅی یوشمیرنورو وویل چی په سختیواوتکلیفوکې خوموږ رابلل کیږو اوغنیمتونه بیاپربل چاویشل کیږی ، رسول الله ﷺ چی کله له دې خبرو خبرسو نوانصار ﷺ یې راوغوښتل اووې فرمایل اې انصارو ﷺ داڅه خبره ده چی زه یې اورم ، انصارو ﷺ وویل یارسول الله ﷺ زموږ مشرانواوپوهانواودرایه په خاوندانوکې یوه هم داخبره نه ده کړې بلکې یوشمیرځوانانوداسی ویلی دی ، رسول الله ﷺ وفرمایل اې انصارو ﷺ آیاتاسوبی لاری نه واست الله ﷻ تاسوته زماپه وجه سمه لارونه ښوده اوپه خپل مینځ کی یودبل دښمنان نه واست ؟ الله تعالی زماپه ذریعه ستاسوزړونه یودبل سره ونه تړل ، اوتاسوبی وزله نه واست ، الله تعالی زماپه ذریعه تاسوشتمن نه کړلاست ، انصارو ﷺ وویل یارسول الله ﷺ ته چی څه وایې هغه بیخی صحی دی ربښتیاهم دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ پرموږباندی لوی احسان دی ، رسول الله ﷺ وفرمایل تاسوزمادخبروځواب راکولای سی ، چی وواياست اې محمد ﷺ کله چی ته خلکودروغجن ګڼلی ، نوموږستاتصدیق وکی ، اوکله چی بی ملګرو اوبی مرستندویه وې ، په هغه وخت کې موږستاملګری اومرسته وکړه ، اوکله چی ستاداوسیدوځای نه وو ، موږتاته ځای درکی ، اوکله چی ته غریب اوفقیروې ، موږستامرسته وکړه ، اې دانصارو ﷺ ټولی آیاستاسوزړه په دې خفه سوی دی چی ماددی رزیلی دنیا چی ددې حقیقت دسراب په څیردی څه سامان اویوڅوروپۍ ویوڅو خلکوته دزړه دمیلان لپاره ورکړې اوستاسوپه ایمان اواسلام اویقین باندی می باور وکړ اوتاسومی پریښودی ،،

دبخاری په روایت کی راغلی دی چی رسول الله ﷺ داسی وفرمایل چی قریشوته دجګړوغمونه رسیدلی دی یعنی دمسلمانانوپه مقابله کی دوئ ته ځانی اومالی زیان اوښتی دی ځکه می دوئ ته غنیمتونه ورکړه ددې لپاره چی ددوئ دېربادسو ومالو تلافی

وسی او ددوئ زړونه له اسلام سره مینه پیدا کي او په جګړو کې د دوئ ورونه وژل سوی او بندیان سوی او رنګارنګ تکلیفونه او غمونه ورته رسیدلی او له دې څخه الله تعالی تاسو ساتلی یاست نودزړه دمیلان دپاره داسی خلکوته مال ورکول مناسب دی او تاسو خو مؤمنان یاست دایمان او یقین بی مثاله اونه تلونکی دولت درکړل سوی دی آیا تاسو په دی باندی خوشاله نه یاست چی خلک اوښان او پسونه خپلو کورته بیایي او له تاسو به دالله ﷻ رسول ﷺ ملګری و قسم په هغه ذات چی دهغه په لاس کې زما روح دی که هجرت دتقدیر امر نه وای نوزه به هم له انصارو ؓ څخه وم که خلک په یوه لاره ولاړ سی او انصار ؓ په بله لاره نوزه به هرو مرو دانصارو ؓ لارغوره کوم اې الله ﷻ ته په انصارو ؓ او ددوئ په اولادو او داولادو پر اولادو باندی مهربانی وکړې داوینا چی ځان قربانونکو انصارو ؓ واوریده چیغی اوژړا او فریادونو ځمکه پرسر واخیسته دوئ ټولو په یوه خوله وویل یا رسول الله ﷺ قسم په رب ﷻ مونږ ټول په دی ییخی خوشاله یو چی دالله ﷻ رسول ﷺ زمونږ په برخه سی وروسته دوئ سره ولاړه ،رضی الله عنهم ورضوا عنه) (تاریخ ابن اثیر جلد ۲ /ص ۱۳۱/ (۱)

له جعّرانی څخه دعمری په نیت دهجرت اتم کال ذالقعده میاشت !

دهجرت اتم کال دمیانی په میاشت کې رسول الله ﷺ له جعرانی څخه دشپي مکی مکرمی ته دعمری په نیت روان سو کله چی ورسیدی ، عتاب بن اسید ؓ یې دمکی والی وټاکی ، او معاذبن جبل ؓ یې ددینی زدکړو لپاره له هغه سره پریښودی اودوې میاشتی او شپاړس ورځی وروسته دمیانی په ۲۷ ورځ له خپلو ملګرو ؓ سره مدینی منوری ته ورسیدی (۲)

دمتعت دحراموالی اعلان !

رسول الله ﷺ چی له اوطاس څخه دعمری لپاره تشریف راوړی دکعبی شریفی په دروازه ودریدی او دکعبی ددروازی دواړه پلی یې په دواړو لاسو ونیولی او داسی یې وفرمایل : چی متعت ترقیامته پوری دتل دپاره حرام دی دا اعلان دشپي په وخت کې وسوا و داوریدونکو شمیر هم لږ وو ټول صحابه کرام ؓ په دې نه سو خبر ځکه یو شمیر په ناخبری کې تردې اعلان وروسته هم متعت وکړ لومړی ځل خو رسول الله ﷺ دخیبر په غزاکی دمتعة دحراموالی اعلان کړی وو او دویم ځل دتبوک په غزاکې او دریم ځل دکعبی شریفی په دروازه باندی وسو وروسته بیا دعمر فاروق ؓ دخلافت په وخت یو شمیر خلکو د ناخبری په وجه دمتعة نکاح وکړه عمر فاروق ؓ چی کله خبر سو نومنبر ته وختی او وی ویل ، چی نبی کریم ﷺ متعه ناروا کړی دی او ځای ځای د رسول الله ﷺ په وخت کې د ناخبری له کبله متعه سوی ده او هغه په دی باندی هیڅ نیو که نه ده کړی لنډه دا چی دمتعة حرمت ثابت سوی دی او س زماله دې اعلان وروسته که څوک متعة وکړی زه پر هغه باندی دزنا حد جاری کوم ، دعمر فاروق ؓ له دی اعلان وروسته متعه بالکل بنده سوه ..

(۱) دنبی کریم ﷺ دوعظ ډیر ځایونه په فتح الباری جلد ۸ /ص /۴۰، او زرقانی جلد ۳ /ص /۳۸ کې هم ذکر سوی دی مګر په همدی ترتیب ... (۴۱/

سیف لودین کتابتون

دهجرت داتم کال بيلابيلې پېښې !

(۱) لومړی پيښه په همدې کال عتاب بن اسيد ﷺ په ټولو مسلمانانو داسی حج وکی لکه څنګه چې به مخکې عربو کوی

(۲) په همدې کال دمياني په مياشت کې دماريه قبطيه ﷺ له نس ابراهيم بن رسول الله صلى الله عليه وسلم پيدا سو .

(۳) په همدې کال رسول الله ﷺ عمروبن العاص ﷺ عامل وټاکی اودعشر اوزکات لپاره يې عمان ته وليږی

(۴) په همدې کال رسول الله ﷺ کعب بن عمير ﷺ ذات اطلاع سيمې ته چې دشام له سيمو څخه ده داسلام دبلنې لپاره وليږی پنځه لس تنه يې ورسره کړه دهغه ځای خلکو ټول مسلمانان شهيدان کړه يواځې يوپه دوئ کې روغ پاته سو اومدينې منورې ته بيرته راغلی (تاريخ ابن اثير صفحه ۱۳۲)

(لطائف اومعلومات !)رازونه اوښوونې

دعربو ډيرو قبيلو دمکې دفتح انتظار کوی چې که محمد ﷺ مکه فتح که نو هغه به رښتيا هم پيغمبر ﷺ وی کله چې مکه مکرمه فتح سوه نوخلک راتله اوډلې ډلې په اسلام کې داخل سو لکه چې الله تعالى فرمايي ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾ (۱) ﴿وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا﴾ (۲) ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾ (۳) سورة النصر

ژباړه : کله چې دالله ﷻ مرسته اوفتح راسی اوته خلک ووينې چې په دين اسلام کې ډلې ډلې داخليږی نوپه دغه وخت کې دالله ﷻ په تسبيح اوحمد اوبخښنې مشغول سه اوددې پاته دنيادسفرکولووخت رانژدې دی بيشکه هغه لوی توبه قبلونکی دی ..

مګردهوازن اوثقيف قبيلې دجګړې په مهارتوپوه وی اوډير ښه غشی ويشتونکی وو په تکوينی طور دهغوئ زړونه اوس دستې بندسو ددې لپاره چې له خپل زور اوقوت سره دجنګ ډګرته راسی تردې چې هيڅ نارينه اوښځه ماشوم اوسپين ږيری اوښان اوبزې اوځاروی اوهر رنګه مال چې په کوروکې هيڅ يې نه پريښوده الله ﷻ داټول غنيمتونه پريوه ځای مسلمانانوته ورکړه ددې لپاره چې الله تعالى په دغه وخت کې دخپل پاک دين دښکاره بری عجيبه اوناليدلی منظر دنياته وښيي

دعربوپه غزاګانوکی پيل دبدرله غزاوسو چې په دی سره ټول عرب وويريدل اوپای دحنين په غزاوسو چې دې دعربوزور اودبدبه پای ته ورسوله ددې غزا وروسته په جزيرة العرب کی دهيچاتوان نه وو چې دحق دين په مقابله کې سرپورته کي مګر کله چې ديوشمير مسلمانانوله ژبې داالفاظ ووتل (لن نغلب اليوم عن قلة) نن به مونږ دلږوالی له کبله ماته نه خورو داالفاظ دالله ﷻ نه سوخوښ ځکه په لومړی سرکې ماته راغله ددی لپاره چې داوښودل سی چې فتح اوبری يواځې دالله ﷻ له لوری دی دلږوالی اوډيروالی په وجه نه دی دچاچې الله تعالى مرسته وکړی په هغه باندی هيڅوک نسی بريالی کيدای

سیف لودین کتابتون

او دچاله مرستې چې لاس پورته کې دهغه بیاهیڅ مرستندوی نسته او بل دې لپاره چې
خلکوته داوښیي چې الله تعالی په خپله دخپل رسول ﷺ او دخپل دین ساتنه کوی ستاسو په
ډیروالی باندې نه ده تاسوخوسره له دومره ډیروالی وتښتیدلاست خوکله چې تاسوته
دامعلومه سوه چې زموږ ډیروالی اوزموږ توان هیڅ کارنه ورکوی یوائې دالله ﷻ مرسته
او قوت زموږ مرسته کولای سی نوبیاالله تعالی پرتاسو داانعام وکی :
﴿ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ﴾ (۲۶) آیت سورة التوبه) ژباړه : بیاالله تعالی په خپل رسول ﷺ اومؤمنانو باندې
ځانګړی آرام اوډاډنازل کی اودمرستې لپاره یې داسې لښکر راولیږی چې تاسونه لیدی
او کافرانو ته یې سزاورکړه اوداسزا دکافرانو ده ..
دالله تعالی داعادت دی چې دبریالیتوب اومرستې بدله عاجزانو اوخاکساروته ورکوی
لکه چې الله تعالی فرمایي ﴿وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ﴾ (۵) ﴿وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا يَحْذَرُونَ﴾ (۶) سورة القصص) ژباړه : زموږاراده ده چې په هغه خلکوباندې احسان وکړو چې دوئ په ځمکه کې
دکافرانوله لوری کمزوری ګڼل سوی دی اودوئ موږواکمن وګرزوو او دکافرانو دملکیتو
وارثان یې وګرزوو اوپه ځمکه کې دوئ ته حکومت ورکړو اوفرعون اوهامان اوددوئ
لښکروته مو ددوئ په لاسوداسې شیان وښودوچې له هغه څخه دوئ وویریږی ..
لکه چې دبدرپه غزاکې دفتح اودحنین په غزاکی دماتې همداراز وولکه چې الله تعالی
فرمایي (لقدنصرکم الله ببدرو انتم اذلة) یقیناالله تعالی له تاسوپه بدرکې مرسته وکړه
په داسې حال کې چې تاسوبیخې بې وزلې اوشتوواست ..
داحدغزاپه حقیقت کې دبدردغزاتکلمه پوره کیدل وو لکه چې له پیښو څخه داسې ښکار
ریږی لکه چې دبدرا وحدغزادواړی په یوه ځای یوه غزاوی اودعربو دقبیلوسره لومړنی
غزاوه اودحنین غزاآخری غزاوه ځکه په لومړنی غزاکې لومړی فتح اودهغې په پای کې
ماته یعنې داحدپه غزاکی اودحنین په غزاکی په پیل کې ماته وه خو وروسته بیافتح ددی
لپاره چې دعربو دغزاګانوپیل اوپای دواړه په بریالیتوب اومرسته باندې سی اولکه
څنګه چې دبدرپه غزاکې دمسلمانانو دمرستې لپاره ملائکې له اسمان راښکته سوی وی
دغه رنګه دحنین په غزاکې هم ملائکې له اسمان راښتکه سوی ..
دغنیمت دمالوزیاته برخه رسول الله ﷺ هغوخلکوته ورکړه چې ددوئ په زړوکې تراوسه
لاایمان نه وو ټینګ سوی ددې لپاره چې په دې احسان سره ددوئ مینه له رسول الله ﷺ سره
ډیره سی ځکه داحسان کونکي مینه فطری کاردی دچاپه لاس نه دی لکه چې
یوشاعروایي : (احسن وجه فی الوری وجه محسن .... وایمن کف فیهم کف منعم
اوکله چې درسول الله ﷺ مینه په زړوکې ټینګه سی نوله هغه زړه څخه بیاددنیا اومافیها
مینه په خپله وزې دانه سی کیدای چې په یوه زړه کی دواړی مینې یوځای سی درسول الله

سیف لودین کتابتون

ﷺ مینه او د دنیا مینه لکه چې الله تعالی فرمایي ﴿مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ﴾ سورة الاحزاب آیت ۴) الله عزوجل د هیڅ یوه سړي په سینه کې دوه زړونه نه دي پیدا کړي ..
دانصارو ﷺ د شکایت لامل معاذ الله د مال مینه او محبت نه وو ځکه د دوئ په اړه رسول الله ﷺ په خپله شاهدي ورکړه چې ماستاسو په ایمان او یقین باندي باوروکی او تاسو ته مي له مال غنیمت ځخه برخه درنه کړه د دوئ په پاکو زړوکی د دنیا مینه چیری ځاییدای سی بلکې لامل یې داوو چې انصارو ﷺ دا ورکړه داکرام او عزت او دبریالیتوب دلیل وګڼی ځکه یې د غیرت په غوښتنه په زړوکی دافکر پیدا سو چې په دې ځای کې رسول الله ﷺ زموږ په څیر ځان قربانونکو له درناوی ولی سترګی پټی کړی او سره له دی چې داسترګی پټول تردی انعام په سلهاووزره درجو غوره وو ځکه داسترګی پټول دانصارو ﷺ دایمان او اخلاص سند وو او هغه انعام ورکول د دوئ د ګډوډ والی دلیل وو دچا په ایمان باندی یې چې باروو هغوئ یې پریښود ل ،، دا مضمون د حافظ ابن قیم رحمه الله دخبرو وضاحت او شرح ده علماء دی زاد المعاد او فتح الباری جلد ۸ /ص /۳۹ وګوری)

په همدې کال دبیلا بیلو ځایو والیان او امیران وټاکل سو !

دمکی له فتح وروسته تقریباً ټوله جزیرة العرب داسلام ترسیوری لاندی سوه ځکه دا اړتیا پیښه سوه چې دمسلمانانو په سیمه کې نظم او امن ته توجه وسی ځکه رسول الله ﷺ داسلام دبری او حکومت دپاته کیدو لپاره په بیلا بیلو ځایو کې بیل بیل والیان او حاکمان وټاکل، لومړی ، باذان بن ساسان یې دصنعاء والی وټاکی ، باذان مخکی دکسری له لوری دصنعاء والی وو کله چې الله تعالی کسری هلاک او برباد کی په همدی وخت کې باذان مسلمان سو رسول الله ﷺ نوموړی پر خپل حکومت پریښود ی ترڅو چې باذان ژوندی وو هیڅوک یې له ده سره په واک کی نه دی شریک کړی دباذان له مرګ وروسته د ده زوی شهربن باذان دصنعاء والی سو دشهربن باذان له مرګه وروسته خالدبن سعیدبن العاص اموی دصنعاء والی وټاکل سو ،
او زیادبن لبید انصاری ﷺ یې دلبید او ابوموسی اشعری ﷺ یې دعدن او معاذبن جبل ﷺ یې دیمن دجندولایت والی او ابوسفیان بن حرب یې دنجران او دده زوی یزیدبن ابی سفیان یې دتیمامی او عتاب بن اسید ﷺ دمکی والی او حاکم وټاکل سو او علی کرم الله وجهه دیمن قاضی وټاکل سو (۱)

دعاملانو (زکات ټولونکو) لیږل دهجرت دنهم کال پیل !

دهجرت نهم کال پیل سو دهجرت اتم کال پای ته ورسیدی او دمحرم الحرام میاشت راښکاره سوه په دی میاشت کې رسول الله ﷺ عاملان زکوة راټولونکي وشاوخوا سیموته دزکاتو او عشر راټولولو لپاره ولیږل

(۱) زادالمعاد جلد اول /۱ /ص /۳۱)

سیف لودین کتابتون

لومړی (۱) عینیة بن حصن فزاری ﷛ بنی تمیم ته ولیږل سو ، دویم (۲) بریدة بن الحصیب ﷛ ، اسلم قبیلی ته ولیږل سو (۳) عبادبن بشراشهلی ﷛ ، سلیم اومزینه قبیلی ته ولیږل سو (۵) رافع بن مکیث ، جهینیه قبیلی ته ولیږل سو عمروبن العاص ﷛ بنی فزاره قبیلی ته ولیږل سو (۶) ضحاک بن سفیان کلابی ﷛ ، بنی کلاب قبیلی ته ولیږل سو (۷) بسربن سفیان کعبی ﷛ بنی کعب قبیله ته ولیږل سو ابن الکتبیه ازدی ﷛ ، ذنیان قبیله ته ولیږل سو [۔!]۔ (۸) علاء بن الحضرمی ﷛ ، دبحرین سیمی ته ولیږل سو (۹) حضرت علی کرم الله وجهه ، دنجران سیمی ته ولیږل سو (۱۰) عدی بن حاتم ﷛ ، بنی طی اوبنی اسد قبیله ته ولیږل سو (۱۱) مالک بن نویره ، بنی حنطله قبیله ته ولیږل سو [۔۲۔]

بنوتمیم ته دعیینة بن حصن فزاری ﷛ سریه دمحرم میاشت دهجرت نهم کال !

رسول الله ﷺ بشربن سفیان عدوی دزکاتوټولولوپاره بنوتمیم ته خواته ولیږی نورخلک زکوة ورکولوته تیارسو مگر بنوتمیم په دی کې خنډ سو اووې ویل چې قسم په الله ﷻ که له دی ځایه یواوښ هم بوزی توری یې راوایستی اودجگړی لپاره تیارسو بشرچی کله داحالت ولیدی بیرته راستون سو اورسول الله ﷺ ته یې خبوروکی رسول الله ﷺ عیینه بن حصن فزاری ﷛ له پنځوس مجاهدینو سره د سقیاپه نامه ځای ته ولیږی چیری چی بنوتمیم اوسیدل داځای له جحفی څخه اولس میله لیری دی مجاهدین په شپه کی ورسیدل اوپردوئ باندی یې بریدوکی یولس نارینه اویویشت ښځی اودیرش ماشومان یې بندیان مدینی منوری ته راوستل ، بنوتمیم مجبورسو اودلس تنه یوپلاوی یې ونبی کریم ﷺ ته ولیږی په دوئ کې عطارد بن حاجب اوزبرقان اوقیس بن عاصم اواقرع بن حابس هم وو کله چی دوئ مدینی ته ورسیدل نودرسول الله ﷺ دحجری شریف شاته ودریدل اونبی کریم ﷺ ته یې آواز وکی ، اې محمد ﷺ دباندی راووزه له موږسره په شاعری اوفخرکی مقابله وکړه زموږصفت کول ښائست دی اوزموږبدی بیانول عیب دی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل داشان خودالله ﷻ دی اونه زه شاعریم اونه ماته دفخرحکم سوی دی په دی اړه داایت نازل سو :﴿إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ﴾ (۴)﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ (۵)آیت سورة الحجرات) (۳)

ژباړه په تحقیق سره کوم خلک چی تاته دحجرودشاله خوا ناری وهی ډیریې نه پوهیږی اوکه دوئ صبرکړی وای ترهغه وخت چی ته راوتلی وای نودابه ددوئ لپاره غوره وو اوالله ﷻ بخښونکی اومهربان ذات دی ..

(۱) طبقات ابن سعد جلد ۳ /ص/ ۱۱۵)
(۲) زادالمعاد جلد ۲ /ص/ ۲۱۰)

سیف لودین کتابتون

ادب سائل ډیر ستر نعمت دی!

عبدالله بن عباس رضی الله عنه د قرآن د زدکړې لپاره د سید القرآء ابی بن کعب رضی الله عنه کور ته ورتلی داد ب په وجه به یې دروازه هیڅکله نه ډبوله دابی بن کعب رضی الله عنه په انتظار به ناست وو ترڅو چې به هغه په خپله دباندی راووتی یوه ورځ ابی بن کعب رضی الله عنه ورته وویل ته دروازه ټکوه، عبدالله بن عباس رضی الله عنه په ځواب کې ورته وویل (العالم فی قومه کالنبی فی أمةٍ وقد قال الله تعالیٰ فی حق نبیه علیه الصلوة والسلام ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ (۵) آیت سورة الحجرات)

ژباړه: عالم په خپل قوم کی د نبی په څیر دی په خپل امت کې او الله تعالیٰ د خپل نبی علیه السلام په اړه فرمایلی دی چې که دوئ صبر کړی وای تر هغه وخت چې ته راوتلی وای نو دا به غوره وو،،، ابو عبیدة رحمه الله وایې چې ما دهیچا دروازه نه ده ټکولی ترخو چې هغه په خپله و خپل دوست ته تشریف راوړی علامه الوسی وایې چې له کومه وخت چې ما دا قصه ولیده له همدې وخت می بیا د استاذانو او شیخانو سره همدا معمول دی والحمد لله تعالیٰ علی ذلک بیرته خپلی خبری ته ګرزو: وروسته رسول الله ﷺ دباندی راووتی او د ماپښین لمونځ یې اداکی کله چې له لمانځه خلاص سو د مسجد په غولی کی کینستی پلاوی وویل موږ د فخر د مقابلی لپاره راغلی یو ته زموږ شاعر او خطیب ته د وینا اجازه ورکړه، رسول الله ﷺ و فرمایل اجازه ده:

د عطارد بن حاجب تمیمی خطبه!

د بنو تمیم خطیب او ویاند عطارد بن حاجب ولاړ سو او داسی خطبه یې ولوستله!

الحمد لله الذی له علینا الفضل هو الذی جعلنا ملوکا و هب لنا اموالا عظاما مانفعل فیها المعروف وجعلنا اعز اهل المشرق و اکثر عددا وعدة فمن مثلنا فی الناس السنا برؤس الناس وافضلهم فمن فاخرنا فلیعدد مثل ماعددنا وانا لوشئنا لاکثرنا الکلام ولکنا نستحی من الاکثار وانا نعرف بذلک اقول هذا لان تأتوا بمثل قولنا وامر افضل من امرنا)

ژباړه: حمدا و صفت هغه ذات لره دی چې موږ ته یې غوره والی راکړی دی او پاچهان یې ګرزولی یو او ډیر شته یې راکړی دی هغه موږ په ښو کارو کې لګوو او موږ یې د مشرق په خلکو کې تر ټولو ډیر عزتمند کړی یو او ډیر زور او واک او دبدبه یې راکړی ده نوا یې خلکو که زموږ په څیر خلک څوک نه وی آیا موږ د خلکو مشران او تر دوئ غوره نه یو او که څوک زموږ سره په فخر کې مقابله غواړی هغه ته په کار دی چې زموږ په څیر د فخر شیان او خپل صفتونه بیان کی لکه موږ چې خپل صفتونه او د فخر لاملونه درته په ګوته کړه او که موږ وغواړو نو د خپل فخر په اړه ډیری اوږدی خبری کولای سو مګر موږ د خپل فخر په بیانولو شرمیږو او موږ په دی باندی مشهور یو او ما دا خبره ځکه وکړه چې که څوک د دې برابر یا تر دی غوره راوړلای سی بیان دی کې عطار چې له خطبی ویلو خلاص سو کینستی

سیف لودین کتابتون

رسول الله ﷺ ثابت بن قيس بن شماس انصاری﷛ ته وویل دده ځواب ورکړه ثابت بن قيس﷛ هم سمدستي ولاړ سو او داسي خطبه يې ولوسته:

دثابت بن قيس انصاری رضی الله تعالی عنه خطبه!

الحمد لله الذی السموات والارض خلقه قضی فيهن امره ووسع كرسيه علمه ولم يكن شئ قط الامن فضله ثم كان من قدرته ان جعلنا ملوكا واصفی خير خلقه رسولا اكرمه نسبا واصدقه حديثا وافضله حسبا وانزل عليه كتابًا وائتمنه على خلقه فكان خيرة الله فی العالمين ثم دعا الناس الی الايمان به فامن برسول الله صلی الله عليه وسلم المهاجرون من قومه وذوی رحمه اكرم الناس احسابا واحسن الناس وجوها وخير الناس فعالا ثم كنا اول الخلق اجابة واستجابة الی حين دعا رسول الله ﷺ فنحن انصار الله ووزراء رسول الله ﷺ نقاتل الناس حتی يؤمنوا بالله فمن آمن بالله ورسوله منع ماله ودمه ومن كفر جاهدناه فی الله ابداً وكان قتله علينا يسيرا اقول قولی هذا واستغفر الله لی وللمؤمنين والمؤمنات والسلام عليكم

ژباړه: حمداوثناء دی وی هغه پاک ذات لره چی اسمانونه اوځمکی يې پيداکړی دی او خپل حکم يې په هغوکې جاري کړی دی هغه په ټولو مخلوقاتو باندی خبردی هرڅه چی دی دهغه فضل دی بیا هغه قدرت موږ پاچهان جوړکړو اوپه ټوله نړۍ کې يې غوره رسول راولیږی، چی په ټول مخلوق کی په مرتبه اونسب کې ډیر غوره دی اوالله تعالی پرهغه باندی یو کتاب نازل کی اودئ يې دټول مخلوق امين وګرزوی نوځکه دئ په ټوله نړۍ کی ترټولو غوره بنده دی دالله ﷻ دې راليږل سوی استازی ټولو خلکوته داسلام بلنه ورکړه ترټولو خلکو مخکې پرده باندی لومړی مهاجرينو ايمان راوړی چی دده خپلوان دی اوپه عزت اوکورنۍ اومرتبه کې ترټولو غوره دی اودکارو اوښو عملوله کبله ترټولو زيات ښائسته دی تردوئ وروسته بیا موږ انصارو﷡ درسول الله ﷺ بلنه ومنله موږ ترنورو خلکو مخکې يو، موږ انصاريو﷡ دالله ﷻ ددين مرسته موو کړه اودرسول الله ﷺ وزيران اومرستندويان يوله خلکوسره ترهغه وخت جنګيږو ترڅوچی دوئ ايمان نه وی راوړی مګر څوک چی په الله ﷻ اودهغه په رسول ﷺ باندی ايمان راوړی نوهغه خپل ځان اومال خوندی کی اوچاچی سرغړونه وکړه له هغوسره موږ دالله ﷻ په لاره کې جهادکوو اودهغه وژل موږ ته ډیر اسانه دی داهغه څه دی چی ماوویل اوزه دالله تعالی څخه دخپل ځان اودټولو مؤمنانو نارينه اوښځو لپاره دبخښنی دعاغواړم، والسلام،

ترده وروسته زبرقان بن بدر په خپلو صفاتو اوفخرکې یوه قصيده وويله رسول الله ﷺ حسان﷛ ته وفرمايل، دده ځواب ورکړه: حسان﷛ ولاړ سو دهغه په ځواب کې یوه قصيده ولوسته اقرع بن حابس وويل قسم په الله ستاخطيب زموږ ترخطيب اوستاشاعرزموږ ترشاعرډير غوره دی اوټول په اسلام مشرف سو رسول الله ﷺ دوئ ته انعام ورکي اودوئ ټول بنديان يې خوشی کړه (۱)

زرقانی جلد ۳ /ص/۴۲ــ۴۳)

سيف لودين كتابتون

بني المصطلق ته دولیدبن عقبه بن ابی معیط رضی الله تعالی عنه لیږل

رسول الله ﷺ ولیدبن عقبه رضی الله عنه دزکاتوټولولوپاره بني المصطلق ته ولیږی دوئ چی کله دعقبه رضی الله عنه په راتګ خبرسو ډیر خوشاله سو په عسکری جامو کې دولیدبن عقبه رضی الله عنه دهرکلی لپاره مخ ته راووتل ، دجاهلیت په وخت کې دولیدبن عقبه رضی الله عنه اودبنی المصطلق په مینځ کې دښمنی وه ، ولید رضی الله عنه چی کله دوئ ولیدل داخیال یې وکی چی کیدای سی دزړی دښمنی په وجه دوئ دجنګ لپاره راوتلی وی کله چی ده وسلوال خلک ولیدل سمدستی له هغه ځایه راوګرزیدی اورسول الله ﷺ ته راغلی ورته وې ویل چی هغه خلک له دین اسلام اوښتی دی دوئ له زکوة ورکولو څخه انکارکړی دی ، رسول الله ﷺ چی داخبره واوریده ډیر تعجب یې وکی رسو ل الله ﷺ لاپه همدی فکر کې وو چی دبنی المصطلق پلاوی راورسیدی دوئ اصل خبره بیان کړه چی موږ دجګړی اراده نه وه بلکې په عسکری جاموکی مودولید رضی الله عنه هرکلی کوی اوپه دی اړه داآیت نازل سو ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ﴾ (٦) (سورة الحجر

ژباړه : اې مؤمنانو که تاسوته یوفاسق خبرراوړی نودهغه ښه پلټنه کوی هسی نه چی په ناخبری کې یوقوم ته ځه زیان ورسوی صبابه په خپلو کړوپښیمانه یاست .

یادونه : په دې آیت کې له فسق څخه فسق لغوی مراددی یعنی له اطاعت وتل نورنوکه هرڅومره معمولی درجه وتل وی دلته شرعی اواصطلاحی فسق نه دی مراد ، دګناه کبیره کول قصدادشریعت په اصطلاح کې ودې ته فسق وایې ، ولید چی کوم خبررسول الله ﷺ ته بیان کی ددی خبرلامل اومنشأ غلط فهمی وه ځکه په دی آیت کې له فسق څخه فسق لغوی مراددی څنګه چی خبردپیښی خلاف وو ځکه هغه ته فاسق وویل سو اوپه دی معنی سره دصحابی فاسق کیدل دصحابی رضی الله عنه شرعاً فاسق کیدلوسره لازم نه دی فافهم ذلک واستقم ، زرقانی جلد ۳ /ص /۴۰)

په حدیث شریف کې راغلی دی چی دایمان اووه اویا ۷۷ درجی دی لوړه درجه یې شهادة اَنْ لاَاِلٰهَ اِلَّااللهُ دی ، اوکوچنی درجه یې له لاری داغزی لیری کول دی نوری ټولی برخی اوڅانګی په مینځ کې دی اوپه هره برخه باندی دایمان اطلا ق کیږی دغه رنګه په قرآن اوحدیث کې دفسق اوظلم اوګناه اطلاق دکفرڅخه واخله بیاتروړووړو ګناه پوری راغلی دی لکه څنګه چی دایمان مرتبی بیلابیلی دی دغه رنګت دکفراوګناه مرتبی هم بیلابیلی دی دآدم عليه السلام په تیروتنه باندی هم دګناه اومعصیت اطلاق راغلی دی ﴿وَعَصَىٰ آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَىٰ﴾ (۱۲۱) الاسراء) اوپه کفرباندی دګناه اطلاق راغلی دی ﴿وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا﴾ (۲۳)آیت سورة النوح) مګرښکاره خبره ده چی په ټولوګناهوکی دځمکی اواسمان په څیرتوپیردی لفظ که څه هم یودی مګر معنی مختلف ده ،،

سیف لودین کتابتون

دغه رنګه په دی آیت کې چې د فاسق لفظ راغلی دی دا په لغوی معنی اخیستل کیږی نه په شرعی معنی باندی ځکه صحابه کرام ﷺ ټول عادلان او ثقه او معتمد دی رضی الله عنهم ورضوا عنه دی معاذالله که نوموړی شرعی فاسق وی نو الله ﷻ به له ده راضی نه وو ځکه الله تعالی فرمایې ﴿فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَرْضَىٰ عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ﴾ (۹۶) آیت سورة الانفال) الله تعالی له فاسقانو نه راضی کیږی ، په همدی وجه امام بخاری رحمه الله په صحیح بخاری کې یو باب اینښې دی باب کفران العشیر و کفر دون کفر و باب ظلم دون ظلم)

دعبدالله بن عوسجه رضی الله تعالی عنه سریه دهجرت ۹ کال دصفری میاشت!

دهجرت نهم کال دصفرالمظفر په میاشت کې رسو ل کریم ﷺ عبدالله بن عوسجه ﷺ بنی عمرو بن حارثه ته داسلام له بلنې لیک سره ولیږی کله چې نوموړی وهغو خلکو ته بلنه ورکړه دوئ داسلام له منلو ډډه وکړه اودرسول الله ﷺ لیک یې په اوبو پریولی ، عبدالله بن عوسجه ﷺ راغلی اونبی کریم ﷺ ته پیښه بیان کړه ، نبی کریم ﷺ وفرمایل ، آیا دهغوئ عقل تللی وو ، له هغه وخت بیاترا وسه پوری دهغې قبیلې خلک کم عقل اوناپوهان دی دیر لږ عقل لرونکی اوډیریې ګونګیان وی . اعاذنا الله سبحانه وتعالی عن ذلک آمین یارب العالمین

دقبطه بن عامر رضی الله تعالی عنه سریه وخشعم قبیلې ته دهجرت ۹ کال !

دهمدې په همدې میاشت کې نبی کریم ﷺ شل تنه مجاهدین د قطبة بن عامر ترمشری لاندی دخشعم قبیلې ته ولیږل قطبة بن عامر ﷺ ولاړی اوله دوئ سره یې جګړه وکړه اوهغوئ ته یې ماته ورکړه اوڅه اوښان اوپسونه اویوڅه بندیان یې په غنیمت ونیول اوبیرته مدینې منورې ته راستون سو دخمس ترایستلو وروسته څلور څلور اوښان دهر سړی په برخه ورسیده اویو اوښ په لسو بزو وشمیرل سو (۱)

دضحاک بن سفیان رضی الله تعالی عنه سریه وبنی کلاب ته !

دلومړی خور په میاشت کې رسول کریم ﷺ بنی کلاب ته داسلام دبلنې لپاره ضحاک بن سفیان کلابی ﷺ ولیږی دوئ له اسلام راوړلو انکاروکې اوصحابه کرام ﷺ اواسلام ته یې بښکنځل وکړه اوجګړې ته تیار سو په پای کې جګړه وسوه دوئ ماته وخوړه اوضحاک بن سفیان ﷺ بریالی او کامیاب له غنیمت سره مدینې منورې ته راستون سو (۲)

حبشه ته دعلقمة بن مجزر مدلجی رضی الله تعالی عنه سریه !

رسول کریم ﷺ ته داخبر ورسیدی چې جدی ته څه حبش راغلی دی رسول الله ﷺ علقمة بن مجزر مدلجی ﷺ له درې سوه تنه سپرویو ټولی سره ددوئ دنیولو لپاره ولیږله دوئ چې کله خبر سو وتښتیدل اودسیند په یوه جزیره کې پټ سو مسلمانان چې کله له هغه ځایه

---

(۱) طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص / ۱۱۷)
(۲) طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص / ۱۱۷)

سيف لودين كتابتون

بیرته راتلونو ددې ټولګۍ. یو شمیر خلکو تلوار وکی دوئ غوښتل چې ترنور لښکر مخ ته ځان ورسوی علقمة ﷺ اوربل کې اوتلوار کونکیو ته یې امروکی چې ودې اورته ولویږی څه خلک ودې ته تیارسو علقمة ﷺ وویل ودریږی ماله تاسوسره مسخری کولی کله چې مجاهدین مدینی منوری ته ورسیدل نورسول الله ﷺ ته یې ددی پیښي یادونه وکړه نبی کریم ﷺ وفرمایل هرڅوک چې تاسو په ګناه امرکوی هغه حکم مه منی اودصحیح بخاری اومسنداحمداوسنن ابن ماجه له روایت څخه معلومیږی چې ددې سریه امیرعبدالله بن حذافه سهمی ﷺ وو اوپه اورکې دداخلیدوامر همده ورکړی وو کیدای سی چې ددې اختلاف په وجه امام بخاری ددې سریه لپاره دوې ترجمی ایښي وی بخاری رحمة الله علیه داسی ویلی دی . باب سریة عبدالله بن حذافة السهمی ﷺ وعلقمة بن مجزز المدلجی ﷺ ویقال انها سریة الانصاری . دتفصیل لپاره فتح الباری جلد ۸/ص/۴۶۰ اوزرقانی جلد ۳/ص/ ۴۹ وګوری)

دطئ قبیلی دبتانو ماتولو لپاره دعلی بن ابی طالب رضی الله تعالی عنه سریه اودحاتم طائی دزوی اولور داسلام یادونه !

دهجرت نهم ۹ کال دلومړی خورپه میاشت کې علی رضی الله تعالی عنه له دوه نیم سوه یادوه سوه تنه سپروسره دطئ قبیلی دفلس (۱) بت دماتولولپاره رسول الله ﷺ ولیږی کله چې علی ﷺ ورسیدی پردوئ باندی یې دشپی بریدوکی څه نارینه بندیان ونیول سو اوڅه پسونه په غنیمت ونیول سوه اوبت وسوځول سو اودوې توری یې له هغې بت خانی څخه راوړی داتوری حارث بن شمر ځړولی وی په دې بندیانوکې دحاتم طائی لور سفانه (۲) هم وه اودحاتم زوی عدی بن حاتم وشام ته وتښتیدی ځکه په شام کې دده دعیسوی دین پلویان ډیروو بندیان چې کله مدینی منوری ته راوستل سو دمسجد وڅنګ ته په یو کیمپ یې ځای پرځای سو رسول کریم ﷺ چې کله ددوئ وڅنګ تیریدی دحاتم لورولاړه سوه اوغوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ زماپلارخومړدی اوکوم ولی اوخپل چې زماوو هغه وتښتیدی ته پرمونږ احسان وکړه الله ﷻ به پرتااحسان وکوی ، رسول الله ﷺ وپوښتل ستاخپل اوولی څوک دی ؟ سفانه وویل زماورور عدی بن حاتم ، نبی کریم ﷺ وفرمایل ، عدی هغه چې له الله ﷻ اورسول ﷺ څخه تښتیدلی دی سمه دی زه به له تاسره نیکي وکړم په تلوکې تلوارمه کوه زه غواړم چې ستادقوم یوډاډمن څوک پیداکړم اوته ورسره ولاړه سی ، دوې یادرې ورځي وروسته دطئ قبیلی څه خلک شام ته تلو رسول الله ﷺ دمهربانی اوسخاپه وجه دلاری توښه اوسپرلی. اوڅه جامی ورکړی اورخصت یې کړه ، سفانه په اسلام مشرفه سوه اوپه دې ټکویې درسول الله ﷺ شکریه آداکړه

(شکرتک یدافتقرت بعدغنی ولاملکتک یداستغنت بعدفقرواصاب الله بمعروفک مواضعه ولاجعل لک الی لئیم حاجة ولاسلب نعمة عن کریم الاوجعلک سبباً لردها علیه)

(۱) فلس دفاء په پیښ سره اودلام په سکون سره)
(۲) سفانه ، دفاء په شداودسین په زورسره)

سیف لودین کتابتون

ژباړه : لوی ښښتن دی وکړی چی هغه لاس ستاتل شکرکښونکی سی کوم چی له خوشالی، وروسته خالی سوی وو اوهغه لاس دې پرتاباندی هیڅ کله واک ونه لری کوم چی له فقرڅخه وروسته امیرسوی وی اوالله ﷻ دې وکړی چی ستانیکی تل په خپل ځای وی اوالله ﷻ دی وکړی چی ته هیڅکله ویوه کمینه رزیل ته اړنه سی اوالله ﷻ دی وکړی چی ته له هیڅ عزتمند څخه خپل مهربانی ونه ګرزوی مګر که وګرزی الله ﷻ دې تاسبب دبیرته ورسپارلوو ګرزوی ..

سفانه رضی الله عنها له رسو ل الله ﷺ څخه رخصت سوه شام ته ولاړه کله چی شام ته ورسیده نوله خپل وروعدی سره یې ولیدل اوټوله پیښه یې ورته بیان کړه .عدی له خپلی خوروپوښتل ستاڅه رایه ده زه څه وکوم ، سفّانه په ځواب کې ورته وویل (اری واللہ ان تلحق به سریعا فان یک نبیا فالسباق الیه فضیلة وان یک ملکا فلن تزال فی عزو انت آت) ژباړه : قسم په الله ﷻ زه دابنه ګڼم چی ته ډیر ژرهغه ته ورسی که هغه نبی ﷺ وی نوهغه ته ژرورتلل اومخکې کیدل دغوروالی سبب دی اوکه هغه پاچاوی نودتل لپاره به دې عزت کوی اوته به داسی داسی سی ! ، عدی هم دخور خبره ومنله سمدستی راغلی مدینی منوری ته اودرسول الله ﷺ په خدمت کی حاضرسو اوپه اسلام مشرف سو ، زرقانی جلد ۳ /ص / ۵۳ واصابه ترجمه عدی وسفانه) ددې داسلام دراوړلوپوره بیان په اصابه کې سوی دی هلته دی وکتل سی اوپه لومړی جلدکی موږهم درته یادونه کړی ده ..

دکعب بن زهیررضی الله تعالی عنه اسلام راوړل !

دامومخکې درته وویل چی کعب بن زهیریوله هغوشاعرانوڅخه دی چی دنبی کریم ﷺ په شان کې یې ناوړه شعرونه ویل دمکی دفتح په ورځ کعب بن زهیراودهغه وروربحیربن زهیردځان خوندی ساتلولپاره دمکی څخه وتښتیدل اوابرق الغراف په نامه ځای ته ولاړل هلته میشت سو بحیره کعب ته وویل ته دلته پاته سه زه به نبی کریم ﷺ ته ورسم له هغه سره به خبری وکړم اودهغه ددین پوره څیړنه به وکړم که هغه رښتیني راته معلوم سو نودهغه پیروی به وکړم که نه ووپری به یې ږدم کعب داخبرورسره ومنله ، بحیرراغلی مدینی منوری ته اودرسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو کله چی یې دنبی کریم ﷺ خبری واوریدی سمدستی په اسلام مشرف سو په همدی مهال رسول الله ﷺ له طائف راستون سوی او مدینی منوری ته راغلی وو ، بحیر رضی الله عنه خپل وروور کعب ته یو لیک ولیکی په هغه کې داسی لیکلی وو ، کوموخلکو چی دنبی کریم ﷺ په شان کې ناوړه شعرونه ویلی وو هغه دمکی دفتح په ورځ ووژل سو اوڅوک چی په تیښته بریالی سو هغه ولاړل که تاته

سيف لودين كتابتون

خپل ژوند ګران وی نو سمدستی راشه او د نبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سه، ځکه څوک چی اسلام ومنی او توبه وکاږی او نبی کریم ﷺ ته په خپله راسی نبی کریم ﷺ هغه نه وژنی او که داسی نه سی کولای نو بیا لیری ځای ته ولاړ سه چی هلته خوندی سی ،، پر کعب دا خبره ډیره بده ولګیده ، چی بحیر ﷺ زما له مشوری پر ته مسلمان سو دده دلیک په ځواب کې یې داشعرونه ولیکل او بحیر ﷺ ته یې ولیږل :

الا اَبْلَغَا عَنِّی بُحَیْرًا رِسَالَةً .... فَهَلْ لَکَ فِیمَا قُلْتُ وَیَحل هَل لَکَا

اې دوستانو ، بحیرا ته زما دا پیغام ورسوی زه چی څه وایم په دې اړه ستا څه رایه ده افسوز چی تا څه وکړل

فَبَیِّنْ لَنَا اِنْ کُنْتَ لَسْتَ بِفَاعِلٍ .... عَلٰی اَیِّ شَیْئٍ غَیرِ ذٰلِکَ دَلَّکَا

دا راته ووایه چی که ته د خپل پلار او نیکه په دین باندی پاته نه سی نو بیا تاولی له دی پر ته بله لاره نه غوره کوله

عَلٰی خُلُقٍ لَمْ تُلْفَ اُمًّا وَلَا اَبًا .... عَلَیْهِ وَتُلْفِی عَلَیْهِ اَخًا لَکَا

تا داسی لاره غوره کړه چی نه دی مور په دې لاره تلی ده او نه دې پلار او نه دې ورور پر دې لاره لیدلی دی .

فَاِنْ اَنْتَ لَمْ تَفْعَلْ فَلَسْتُ بِآسِفٍ .... وَلَا قَائِلٍ اِمَّا عَثَرْتَ لَعًا لَکَا

که چیر ته زما خبره و نه منی نو زما هیڅ غم نسته او نه زه ستا د بنوید لو په وخت کې تا ته (لعالک) وایم ، دا کلمه د تیروتنی په وخت کې ویل کیږی معنی دا دی چی ودریږه .

سَقَاکَ بِهَا الْمَاْمُوْنُ کَاْسًا رَوِیَّةً .... فَاَنْهَلَکَ الْمَامُوْنُ مِنْهَا وَعَلَّکَا

مامون (محمد ﷺ) لکه څنګه چی قریشو هغه آمین او مامون ګڼلی وو کیدای سی په تا باندی یې ډکه پیاله په وار وار څیښلی وی

بحیرا ﷺ دا پیښه له نبی کریم ﷺ پټه نه کړه ځکه یې دا قصیده د نبی کریم ﷺ په خدمت کې وړاندی کړه نبی کریم ﷺ وفرمایل ده رښتیا ویلی دی بیشکه زه د الله ﷻ له لوری مامون او ماموریم (۱)

او علی خلق لم تلف اما ولا اباً ، دا ټکی چی رسول الله ﷺ واوریدل ، وې فرمایل دا هم سمه خبره دی ده خو خپل مورا و پلار پر دی لاره نه و ولیدلی

بحیرا ﷺ دده د پیغام په ځواب کې داسی شعرونه ولیکل او وې لیږل !

مَنْ مُبْلِغٌ کَعْبًا فَهَلْ لَکَ فِی الَّتِیْ .... تَلُوْمُ عَلَیْهَا بَاطِلًا وَهِیَ اَحْزَمُ

داسی څوک شته چی کعب ته دا پیغام ورسوی ، چی آیا ستا په هغه دین کې د داخلید و مینه سته په کوم دین باندی چی ته ماهسی ملامتوی او سره دی چی دا ډیر ښه او غوره دین دی

(۱) زرقانی جلد ۳ /ص /۵۳ ، په یو شمیر نسخو کې دسقاک بها المأمون پر ځای سقاک بها المأمور راغلی دی)

اِلَی اللّٰهِ لَا الْعُزّٰی وَلَا اللَّاتُ وَحْدَهٗ .... فَتَنْجُوْا اِذَاكَانَ النَّجَاءُ وَتَسْلَمُ

لات او عزی ته نه بلکې ديوه خدای ﷻ و خواته راشه ، ددې لپاره چې په کوم وخت کې موحدين د الله ﷻ له عذاب څخه خلاصون پيدا کوي ، نو ته هم خلاصون پيدا که او د الله ﷻ له عذاب به خوندي سی .

لَدَیٰ يَوْمَ لَا يَنْجُوا وَلَيْسَ بِمُفْلِتٍ .... مِنَ النَّاسِ اِلَّا طَاهِرُ الْقَلْبِ مُسْلِمٍ

او له عذاب به خلاصون هيڅوک پيدا نه کی ، پرته له هغه چاچې دهغه زړه د کفر او شرک له پليتيو پاک وی او مسلمان وی .

فَدِيْنُ زُهَيْرٍ وَهُوَ لَاشَیْءٌ دِيْنُهٗ .... وَدِيْنُ اَبِیْ سُلْمٰی عَلَیَّ مُحَرَّمٗ

د زهير دين بيشکه هيڅ شئ هم نه دی او زما د پلار زهير او نيکه ابو سلمی دين په ما باندی حرام دی ځکه زه په حق دين يعنی اسلام کې داخل سوی يم ..

د بحير ﷺ دې ځرګند ځواب پر کعب باندی ډير اثر وکی په دغه وخت کې يې يوه قصيده د نبی کريم ﷺ په صفت کې وليکله او مدينی منوری ته روان سو کله چې مدينی منوری ته ورسيدی د سهار له لمانځه وروسته د نبی کريم ﷺ په خذمت کې حاضر سو ځان يې پردی جوړ کړی وو ولاړ سو او رسول الله ﷺ ته يې وويل يارسول الله ﷺ که کعب بن زهير توبه وکاږی او ستا په خذمت کې حاضر سی او مسلمان سی نو آيا ته به هغه ته امن ورکړی ؟ نبی کريم ﷺ وفرمايل : بلی هو ، کعب وويل يارسول الله ﷺ هغه توبه کښونکی او ګنهګار زه يم زه کعب يم لاس را اوږد که چې بيعت درسره وکړم په همدې وخت کې يو انصاری ولاړ سو او له رسول الله ﷺ څخه يې دده د سرپريکولو اجازه وغوښته ، نبی کريم ﷺ وفرمايل : پريږده د توبه کښلی او راغلی دی وروسته کعب د نبی کريم ﷺ په شان کې هغه قصيده ولوسته چې دهغه قصيده لومړنی بيت دا سی دئ :

بانت سعاد فقلبی اليوم متبول .... متيم اثرها لم يفد مکبول

کعب بن زهير چې کله ودې شعر ته ورسيدی

ان الرسول لسيف يستضاء به .... مهند من (۱)سيوف الله مسلول

رسول الله ﷺ په همدې وخت کې يو يمنی پټو اغوستی وو هغه يې له ځان ليری کی او کعب ﷺ ته يې ورکی ، وروسته بيا هغه پټو معاويه ﷺ د کعب بن زهير له وارثانو په شل زره ۲۰۰۰ درهمه رانيوی ، دا پټو تر يو څه وخت د اسلام له خلفاء سره وو داختر دلمانځه لپاره به يې تبرکاً اغوستی د تتاريانو په فتنه کې هغه پټو مبارک ورک سو (شرح موهب قصه کعب بن زهير رضه)

د تبوک غزا د هجرت نهم ۹ کال رجب يا بزرګه مياشت د پنجشنبی ورځ !

په معجم طبرانی کی له عمران بن حصين ﷺ څخه روايت سوی دی چې د عربو عيسايانو د روم پاچا هرقل ته ليک وليږی چې محمد صلی الله عليه وسلم وفات سوی دی او مسلما

(۱) دحاکم په روايت کې راغلي دي چې کله کعب ﷺ ...

سیف لودین کتابتون

نان له ډیری لوږی اووچکالی سره مخ دی پرعربو باندی دبرید همدا وخت ډیر مناسب دی، هرقل هم سمدستی دفوځ دتیاری امر وکی ځلویښت زره لښکریې تیارکي اوپر مسلمانانو دبرید لپاره راووتل (۱)

دشام قبطی سوداګرو به دزیتون تیل راوړل اوپه مدینه منوره کی به یې خرڅول دوئ داخبرراوړی چی هرقل ډیر لوی لښکررا ایستلی دی پرمسلمانانو برید کوی اودده دلښکر مخ کښ لومړي ټولګي تربلقاء پوری رارسیدلی دی او هرقل ټول فوځ ته دپوره کال تنخواهم ورکړی ده (۲)

رسول الله ﷺ چی څنګه خبر سو سمدستی یې دسفردتیاری امر وکی ددې لپاره چی ددښمنانو سرحد تبوک ته ورسیږی اوددوئ مقابله هم هلته وکړی، سیمه ډیر لیری وه سخته ګرمی وه وچکالی اوبی وزلی وه ډیره لوږه وه فقر اوغربت ترحدتیرو اوداسی وخت وو چی دمدینی خورماوی پخی وی دمسلمانانو دحاصل ټولولو وخت وو په داسی نازک وخت کې دجهاد امروسو منافقین خوشحه کوی مسلمانان په ډیر سخت ازمویښت کې ولویدل یو شمیر مسلمانانو غوښتل چی پاته سی او نوروته به یې هم ویل (لاتنفروا فی الحر) داد ګرمی په وخت کې جهادته مه ځی، یوه مسخرا چی وویل، تاسو په دی خبریاست چی زه دښائسته ښځو په لیدلو بی تابه کیږم زه پردی ویریږم چی درومیانو دشاپیریانو په څیر ښائسته ښځی چی ووینم هسی نه چی په فتنه کې ولویږم (۳)

مخلصو مؤمنانو اوسربښندونکو مجاهدینو چی داخبرواریدی ډیر په خوشالۍ سره دځان او مال په تیاری بوخت سو تر ټولو لومړی ابوبکرصدیق ؓ راغلی اوټول شته چی یې په کورکې درلودل رایې وړل اونبی کریم ﷺ ته یې وړاندی کړه ددې مال اندازه څلویښت زره درهم وه نبی کریم ﷺ پوښتنه وکړه آیاد کورلپاره دی څه پریښودل، ابوبکرصدیق ؓ وویل یوائحی الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ، عمرفاروق ؓ نیم مال راوړی، عبدالرحمن بن عوف ؓ دوه سوه اوقیه سره زرراوړل عاصم بن عدی ؓ اویاخورماوی راوړی (۴) عثمان غنی ؓ دري سوه اوښان له سامان سره اوزردیناره راوړل اودنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسو نبی کریم ﷺ ډیرخوشاله سو په وار واربه یې هغه اړول رااړول اوفرمایل به یې: له دې ښه عمل وروسته عثمان ؓ ته هیڅ عمل زیان نه سی رسولای اې الله ﷻ زه له عثمان ؓ راضی یم ته هم له هغه څخه راضی سی (۵)

---

(۱) مجمع الزوائد جلد ۶ /ص / ۱۹۱)
(۲) طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص / ۱۱۹)
(۳) عیون الاثر جلد ۲ /ص / ۲۱۵)
(۴) زرقانی جلد ۳ /ص / ۶۴)
(۵) زرقانی جلد ۳ /ص / ۶۴)

سیف لودین کتابتون

ډیرو صحابه کرام ﷺ دخپل وس اوتوان برابرمرسته وکړه خوبیاهم دسپرلۍ اودلارې دتوښې پوره سامان برابرنه سو ځوصحابه کرام ﷺ درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې و کړه چې یارسول الله ﷺ موږ بیخي بې وزله یو که موږ ته سپرلۍ راکې موږ به هم له دې ثواب نه بې برخې کیږو نبي کریم ﷺ وفرمایل له ماسره هیڅ سپرلۍ نسته نو مرې صحابه ﷺ په ژړا بیرته ولاړل اوددوئ په شان کې داآیتونه نازل سو

﴿وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوا وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنفِقُونَ﴾ (۹۲)سورة التوبه) ژباړه : اونه په هغه خلکو څه ګناه سته چې دوئ تاته راغلو چې ته موږ ته دجهالپاره سپرلۍ راکړه اوتاداسې ورته وفرمایل چې اوس خوله ماسره هیڅ هم نسته چې تاسوته یې درکړم نوهغه خلک په داسې حال کې بیرته ولاړو چې ددوئ له سترګواوښکې بهیدلې په دې غم باندې چې له دوئ سره څه نسته چې هغه دخدای ﷺ په لاره کې ولګوي..

له دې نوموړوصحابه ﷺ څخه یوعبدالله بن مغفل ﷺ اوبل ابوليلى ﷺ اوبل عبدالرحمن بن کعب ﷺ وو کله چې دوئ له رسول الله ﷺ په ژړا ستانه سو په لاره کې یامین بن عمرونضرې سره ولیدل هغه دژړا امل ځنې وپوښتی دوئ وویل چې نه خوله رسول الله ﷺ سره څه شته اونه موږ توان لروچې دسفرسامان تیارکړو موږ پرېږدی ژاړوچې ددې غزاله ګډون څخه بې برخې پاته سو یامین چې کله ددوئ خبرې واوریدې زړه یې نرم سو سمدستي یې اوښ ورته رانیوی اودلارې توښه یې ورته برابره کړه (۱)

کله چې صحابه کرام ﷺ دتګ لپاره تیارسو نورسول الله ﷺ محمدبن مسلمه انصاری ﷺ خلیفه اودمدینې والي وټاکی اوعلي ﷺ یې دکور دساتنې لپاره په مدینه منوره کې پریښودی علي ﷺ غوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ ته ماله ورماشومانو اوښځوسره پرېږدې ، نبي کریم ﷺ وفرمایل ، ته په دې خوښ نه یې چې ستانسبت له ماسره داسې سې لکه دهارون ﷺ له موسی ﷺ سره خو ترماوروسته هیڅ نبي ﷺ نسته (بخاري شریف)

(حدیث انت منی بمنزلة هارون من موسی ﷺ ددې حدیث وضاحت !

شیعه ګان وایې چې له نبي کریم ﷺ وروسته خلافت دعلي ﷺ حق دی دلیل یې داحدیث دی چې (انت منی بمنزلة هارون من موسی ﷺ) خواهل السنت والجماعة وایې چې دنبي کریم ﷺ دسفرپه وخت کې علي ﷺ دخپل اهل اوعیال اوکورنۍ دساتنې لپاره پریښودل چې زماترراتګه پورې ددوئ ساتنه کوه له دې څخه دعلي ﷺ امانت اودینداري اوخصوصیت معلومیږي ځکه خلک دخپلې کورنۍ دساتنې لپاره هغه څوک پرېږدي چې دهغه پرامانت دینداری اومحبت باندې یې اطمینان اوډاډوي ، خپل زوی یا زوم دکوردساتنې لپاره پرېږدي مګر داخبره چې زماتروفات وروسته به ته زماخلیفه یې

(۱) زرقاني جلد ۳ / ص / ۶۶

سیف لودین کتابتون

دحديث له دې مضمون سره هيڅ تړاونه لری بل داچی دعلی ؓ خليفه کيدل يوائحي دکورلپاره وو ځکه رسول الله ﷺ په دې غزاکی محمدبن مسلمه انصاری ؓ خپل خليفه اودمدينی والی ټاکلی وو اوسباع بن عرفطه ؓ يې دمدينی کوتوال اوعبدالله بن ام مکتوم ؓ يې دخپل مسجدامام ټاکلی وو له دې معلومه سوه چی دعلی ؓ خلافت مطلق نه وو بلکې يوائحی دکور اواهل اوعيال دساتنی پوری ځانګړې سوی وو اوکه داومنوچی نيابت مطلق دی نوبيادې غزاڅخه ترراستنيدوپوری وو لکه يوپاچاچی په سفرځی يوڅوک خپل نائب وټاکی نو دهغه سړی پاچاکيدل ترهغه وخته پوری وی ترڅوچی هغه پاچابيرته راستون سی کله چی پاچاراورسيږی نودده نيابت هم پای ته رسيږی اوداموقت نيابت ددې دليل نه سی کيدای چی دپاچاله مرګه وروسته هم همدغه سړی دپاچاخليفه دی البته په موقت نيابت سره دپاچادځای نيول اواهليت ثابتيږی خوموږ له هغه څخه انکارنه کوو چی علی ؓ دخلافت اهليت اولياقت نه لری ټول اهل سنت په زړه اوژبه دعلی ؓ داهليت اولياقت منونکی دی مګرپه دی کې دنوروخلفاء ؓ داهليت اولياقت انکارنسته دهغوئ کمال اهليت اوکمال لياقت له نورواحاديثوڅخه دلمرپه څيرروښانه اوثابت دی

لکه څنګه چی پاچادسفرپه وخت کې څوک خپل نائب وټاکی داددې دليل نه سی کيدای چی دپاچاله مرګه وروسته به حکومت ده ته سپارل کيږی همداسی دعلی ؓ نيابت دی اويوائحی دکورنی اواهل اوعيال دساتنی لپاره نيابت دخلافت کبری دليل ګرزول پوره بی عقلی ده .

درسول الله ﷺ داعادت شريف وو چی کله به غزاته تلی نويوسړی به يې په مدينه منوره کې خپل نائب پريښودی اوکله چی به له سفره راستون سو نودهغه سړی نيابت به په خپله پای ته ورسيدی دهيچا په خيال کې داخبره نه ده تيره سوی چی دهغه صحابی ؓ موقت نيابت اوخلافت دده دخلافت کبری اوامامت کبری دليل ګڼلی وی پاته سوه داخبره چی رسول الله ﷺ په دې حديث کې علی ؓ ته دهارون ؑ سره تشبيه ورکړه نوموږ داوايوچی په دی تشبيه سره بيشکه فضيلت ثابتيږی خوتشبيه په ټولو کارو کی برابری نه لازمه وی په دې حديث کې علی ؓ ته له هارون ؑ سره تشبيه ورکړل سوی ده نودبدردبنديانوپه اړه چی کله نبی کريم ﷺ له صحابه کرام ؓ مشوره وغوښته نوپه هغه وخت نبی کريم ﷺ دابوبکرصديق ؓ تشبيه له ابراهيم ؑ اوعيسی ؑ سره ورکړی ده لکه چی دبدردغزاپه بيان کې موږپوره بيان درته کړ ی اوتيرسوی دی اوښکاره خبره چاته چی له ابراهيم ؑ اوموسی ؑ سره تشبيه ورکول دانت منی بمنزلة هارون من موسی ترتشبيه ورکولو ډير غوره دی.

لنډه داچی رسول الله ﷺ له ديرش زره فوځ سره له مدينی منوری رخصت سو چی په دوئ کې لس زره ۱۰۰۰۰ سپاره وو (زرقانی شرح مواهب (۱)

(۱) عيون الاثرجلد ۲/ص/۲۲۶)

په لاره کې چې به کوم دعبرت اخيستلو ځای راتلی لکه دثموديان پرقوم چې دالله ﷻ عذاب نازل سوی وو نورسول الله ﷺ به دومره متأثره سوچې په مخ مبارک به يې ټوکرواچوی اواوښه به يې تيزه کړه اوصحابه کرام ﷡ ته به يې دا ټينګارکوی چې هيڅ يوتن دی ددې ظالمانو کوروته نه داخليږی اونه دی ددې ځای اوبه څيښبي اونه دی اودس په کوی ټيټ سرپه ژړا به له هغه ځايه څخه تيرسو اوکوموخلکوچې په ناخبری سره له هغه ځايه اوبه رااخيستی وی يايې په هغواوبواوړه لامده کړی وو دوئ ته امروسو چې هغه اوبه توی کي اوهغه اوړه واوښانوته ورکي (بخاری شريف (۱) کتاب الانبياء وفتح البارى جلد ۶/ص/ ۲۶۸ وشرح مواهب جلد ۳/ص/ ۷۳)

له دې څخه داخبره معلومه سوه چې مسجدحرام اومسجداقصی اومسجدنبوی چې هروخت دالله ﷻ په اطاعت اوبندګۍ سره آباددی هلته تلل هلته اوسيدل اودريدل داعين ثواب اوعبادت اوسراسردخير اوبرکت اودرحمتودنازليدو سبب دی ددې خلاف هغه ځايوته تګ اوورتلل چې يووخت دالله ﷻ دسرغړونی مرکزپاته سوی وی اوهلته دالله ﷻ قهراوعذاب نازل سوی وی ډير خطرناک اوويروونکی دی لکه څنګه چې وحرم ته دداخليدونکی ته داحکم سوی دی (من دخله کان آمنا) دغه رنګه دعذاب ځايوته په ورتلوسره دعذاب دنازليدوويره سته بيت الله که يې څوک طواف کوی اوکه نه کوی هغه په خپله دخيراوبرکت اورڼاګانوسرچينه ده ددې په ليدلوسره دزړه تياری اوخړوالی ليری کيږی ددې ځمکه اواوبه اوهواء دروحانی مرضولپاره شفاء ده نوکيدای سی چې دروحانی طبيبانوپه نظردعذاب دځايواوبه اوهوا زهرجن اوروغ سړی ناروغه کوی اودهغه ځای زهرلرونکی جراثيم اومکروبونه دروح اوزړه لپاره زيانمن وی ځکه رسول الله ﷺ دهغه ځای دابوله کارولومنع وکړه له کوم کوهی څخه چې دصالح ؈ اوښی اوبه څيښلی وی له هغه کوهی څخه دابواخيستلوحکم وکړ ځکه هغه کوهی د سرغړونی اوغضب له اثره پاک وو دزمزم اوبه لکه څنګه چې مبارکی اوبه دی دښکاره مرضواوخصوصاً دپټومرضولپاره درمل دی ځکه يې دهغودڅيښلوټينګارکړی دی چې هرڅومره څښيلی سی هغومره وڅيښبي کوم بدبختان چې دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ په سرغړونه اونه منلواخته وو ترڅوچې دالله ﷻ عذاب پردوئ نازل سو دوئ په حقيقت کې ترحيواناتواوڅاروبلکې ترهغوهم بدی دی لکه چې الله تعالی فرمايې ﴿أُولَـٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَـٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ﴾ (۱۸۹آيت سورة الاعراف) ځکه رسو ل الله ﷺ دهغه اوړوپه اړه هغه چې دثموديانودعذاب دځای په اوبو لامده سوی وو داحکم وکی چې په اوښانودی وخوړل سی داسی اوبه دحيواناتودمزاج مناسب دی دانسانانومناسب نه دی.

كذب اصحاب الحجر المرسلين)

سیف لودین کتابتون

لنډه دا کله چې نبی کریم ﷺ پردې ځمکه تیریدی نو هغه ته دا اندیښنه ولویده چې هسی نه چې ددې ځای دزهرجنو او بو او هواء اثر په صحابه کرام ﷺ باندی وسی ځکه یې دوئ ته دهغو ځنځه دساتنی لپاره یوه نسخه وړاندی کړه هغه دا چې ددې ځای ځنځه تیښ سر په ژړا باندی تیرسي، یعنی خشوع او عاجزی ژړا او زاری او په خپلو ګناهو باندی پښیمانتیا او شرمیدل ددا سی ځایو دزهرجنو ابو او هواء ځنځه دساتنی لپاره د درمل او دوا نسخه حکم لری، داوس وخت دپیچکاری، دلګولو وروسته که په طاعونی ځمکه تیرسی نو اندیښنه نسته اې دوستانو دالله ﷻ په دربارکې ژړا اوزاری، توبه کښل او شرمیدل دګناهو دا سی مجرب او ښه درمل دی چې هر څومره سخت او زهرجن مکروب نه سی پاته کیدای سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِکَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ نَسْتَغْفِرُکَ وَنَتُوْبُ اِلَیْکَ قال الله تبارک وتعالی. ﴿وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ﴾ (۱۱۳) سورة هود) ﴿وَسَكَنتُمْ فِي مَسَاكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْأَمْثَالَ﴾ (۴۵) آیت سورة ابراهیم)

وتیری کونکو ته میلان او دتیری کونکو په کوروکې او سیدل هم دملامتیا سبب دی

حجر ته چې کله دوئ ورسیدل رسول الله ﷺ داسی وفرمایل: چې هیڅ یوسړی دی له دې ځایه یواځی نه وزی ناڅاپه دوه تنه ووتل یوسړی دنبی کریم ﷺ په دم سره روغ جوړ سو او دویم سړی هوا او باد پورته کی او په غروکی وموښتی څه وخت وروسته بیا مدینی ته راورسیدی، دا دبیهقی او ابن اسحاق روایت دی دصحیح مسلم له روایت معلومیږی چې دا پیښه په تبوک کی سوی ده کیدای سي چې دوې پښې وی یا دابن اسحق او بیهقی په روایت کی دراوی وهم وی، والله اعلم

اسلامی فوځ مخ په وړاندی روان وو کله چې یو ځای ته ورسیدل نو اوبه نه وی خلک ډیر غمجن سو الله تعالی دنبی کریم ﷺ په دعاء سره باران واوروی چې په هغه سره ټول اوبه سو کله چې له هغه ځایه روان سو نو په لاره کې دنبی کریم ﷺ اوښه ورکه سوه یو منافق وویل چې دئ خو داسمان خبرونه بیانوی مګر په خپله اوښه نه دی خبر چې هغه چیری ده، رسول الله ﷺ وفرمایل: قسم په الله ﷻ که زه په هیڅ شئ خبریم مګر هغه چې الله تعالی ما ته ښودلی دی او اوس ما ته دالله ﷻ په ښودنه معلومه سوه چې هغه اوښه په فلانی کنده کیده او دهغې مهاردیوی ونی سره تړلی دی چې په دې سره دابنده سوی ده وروسته بیا صحابه کرام ﷺ ولاړل او اوښه یې راوستله (رواه البیهقی وابونعیم)

تبوک ته ترتلو یوه ورځ مخکې نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته وفرمایل چې صبا به تا سو د څاښت په وخت کې دتبوک چینی ته رسیږی هیڅوک دې له هغې چینی ځنځه اوبه نه اخلی کله چې دوئ وچینی ته ورسیدل نو دا بویو یو څاڅکی له هغې راتوییدی په ډیر تکلیف سره څه اوبه په یوه لوښی کې راجمع سوی نبی کریم ﷺ په دې اوبو سره خپل لاس او خوله مبارک پریولل او بیرته یې په هغه چینه کې توی کی ددې اوبو په تویدلو سره هغه چینه راوخوټیده او اوبه سمدستی ډیری سوی او ټول لښکر په اوبه سو

سيف لودين کتابتون

ومعاذبن جبل ﷺ ته یې وفرمایل : چې اې معاذﷺ که ته ژوندی پاته سوی نودلته به دې سیمې باغونه په شنه او تازه ووینې (رواه مسلم)

دابن اسحق په روایت کې راغلي دي چې ترننه پورې هغه چینه جاري ده (خصائص کبری جلد ۱ /ص/ ۲۷۳)

دوئ تبوک ته ورسیدل شل ورځې یې هلته تیرې کړې خوهیڅوک مقابلې ته نه راغلو د نبی کریم ﷺ تګ هم بې معنی نه سو ځکه دښمن وویریدی اودشاوخوا قبیلو خلک تسلیم سوی دجرباء (۱) اوازرح اوایله مشران راغله له نبی کریم ﷺ سره یې سوله وکړه او جزیه یې ومنله نبی کریم ﷺ دوئ ته دسولې پریکړه لیک ولیکی اوورېې کي

اوله همدې ځایه نبی کریم ﷺ خالدبن ولید ﷺ له څلورسوه شل سپرو مجاهدینوسره اکیدر ته ولیږی اکیدر دهرقل له لورې ددومة الجندَل مشرو نبی کریم ﷺ خالدبن ولید ﷺ ته وفرمایل : چې نوموړی به تاته په داسې حال کې په لاس درشي چې ښکاربه کوی دئ وژنه مه بلکې ژوندی یې نیسه اوماته یې راوله خوکه ده انکاروکي نوقتل یې که ، خالدﷺ چې کله هلته ورسیدی شپه وه اودسپوږمۍ رڼاوه اکیدر اودهغه ښځه دکلاپه دروازه کې ناست ووغزل یې اوریدله ناڅاپه یوه غرڼۍ غواراغله اودکلاله ځنځیرسره وجنګیده اکیدرسمدستي دخپل ورور اوڅه ملګروسره دښکارلپاره راکښته سو اوپه آسانوسپاره سو اوپه غوا پسې یې وځغستل لږمخکې چې ولاړل خالدبن ولید ﷺ ورته راورسیدی داکیدر ورور حسان مقابله وکړه هغه ووژل سو اکیدرچې دښکارلپاره راوتلی وو هغه په خپله دخالدبن ولید ﷺ ښکارسو خالد ﷺ ورته وویل زه تانه وژنم پناه درکوم په دې شرط چې ته به له ماسره رسول الله ﷺ ته ځې اکیدرخبره ومنله خالدبن ولید ﷺ هم سمدستي له ځان سره ملګری کی اودنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو ، اکیدر په دوه زره ۲۰۰۰ اوښانو اواته سوه ۸۰۰ آسانو اوڅلورسوه زغرو اوڅلورسوه ۴۰۰ نیزوورکولوباندې سوله وکړه (۲)

مسجدضرار ونړول سو !

ترشل ورځې پاته کیدووروسته رسول الله ﷺ له تبوک مدینې منورې ته بیرته راستون سو کله چې نبی کریم ﷺ ذی اوان ته راورسیدی چې له مدینې څخه دیوه ساعت لاره ده نونبی کریم ﷺ مالک بن خشعم ﷺ اومعن بن عدی ﷺ دمسجدضرار دنړولو اوسوځولو لپاره مخکې ولیږل ، دامسجد منافقینو دې لپاره جوړ کړی وو چې درسول الله ﷺ په خلاف په دې مسجد کې مشورې اودسیسې جوړې کی کله چې نبی کریم ﷺ تبوک ته تلی نوهغه وخت منافقین راغلوله نبی کریم ﷺ څخه یې غوښتنه وکړه چې موږدناروغانو اومعذورو خلکو لپاره یو مسجد جوړ کړی دی ته زموږسره ولاړسه یوځل

---

(۱) جَربَاء اواَذرُح اواَيلَه ، دادرې ښارونه دشام په سیمه کې دې)
(۲) عیون الاثر جلد ۲ /ص/ ۲۲)

سیف لودین کتابتون

لمونځ پکی وکړه ددې لپاره چی مقبول اوبرکتی سی نبی کريمﷺ وفرمايل زه خواوس تبوک ته روان يم کله چی راسم بيابه وخت ګورو له راتلوسره سم نبی کريمﷺ مالک بن خشعمؓ اومعن بن عدیؓ ته امر وکی چی ولاړسی اوهغه مسجدوسوځوی اودمسجدپه باره کې داآيتونه نازل سوه :

﴿وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِداً ضِرَاراً وَكُفراً وَتَفرِيقاً بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَاداً لِمَنْ حَارَبَ اللهَ وَرَسُولَهُ مِن قَبْلُ وَلَيَحْلِفَنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلاَّ الْحُسْنَي وَاللهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ﴾ (۱۰۷) ﴿لاَ تَقُمْ فِيهِ أَبَداً لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَي التَّقْوَي مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا وَاللهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ﴾ ۱۰۸ (سورة التوبه)

ژباړه : کوموخلکوچی يومسجدجوړکي ومسلمانانوته دضرررسولولپاره اودکفرلپاره اوپه مومنانوکې دډلوپيداکولولپاره دايې دهغه چالپاره جوړکړ چی دالله ﷻ اودهغه درسولﷺ سره مخکې لاپه مقابله بوخت دی اوقسمونه کوی چی زموږ نيت پرته له نيکی بل شئ نه دی اوالله ﷻ شاهدی ورکوی چی داخلک دروغجن دی ته په دې مسجدکی هيځکله مه درېږه خامخاهغه مسجدچی دهغه بنيادله لومړی ورځی په تقوی سره ايښودل سوی دی يعنی مسجدقباء هغه رښتياددی لائق دی چی ته په هغه کې ودرېږی په هغه کې داسی خلک سته چی پاکی خوښوی اوالله ﷻ پاکې کونکې خوښوی ..

دابن هشام په روايت کې راغلی دی چی نبی کريمﷺ دسُويلم يهودی دکوردسځولوحکم هم وکي په هغه کورکې به منافقان رايوځای کيدل اودنبی کريمﷺ په خلاف به يې غونډی جوړولی اومشوری به يې کولی ، طلحهؓ له ځونورملګروسره ولاړی اودهغه يهودی کوريې وسوځی کله چی نبی کريمﷺ مدينی ته نژدی راورسيدی مسلمانان دهرکلی اوښه راغلاست لپاره مخته ورووتل په دوئ کې ځه ښځی هم وی انجونواوماشومانوبه داشعرونه زمزمه کول :

طلع البدر علـــــينا ....من ثنيات الـــــوداع
وجب الشكر علـــــينا ....مادعـــــاء الله داع
ايها المبعوث فـــــينا .... جئت با الامر المطـــــاع

کله چی نبی کريمﷺ دمدينی منوری زادهاالله شرفاً کورونه اوسرايونه وليدل نوداسی يې وفرمايل (هذاطابة) داښار ډير پاک دی اوکله چی يې دأحدغر وليدی وې فرمايل : (هذا جبل يُحبُّنا ونحبه) داداحدغر دی زموږسره مينه لری اوموږله ده سره مينه لرو .

دبرات دمياشتی په پای کې يادروژی په پيل کې مدينی منوری ته داخل سو لومړی مسجدنبوی ته ولاړی دوه رکعته لمونځ يې اداکی کله چی له لمانځه فارغ سو دخلکودليدولپاره ډير وخت ناست وو وروسته بيادآرام لپاره کورته ولاړی (شرح مواهب (۱) داغزا اخری غزاوه چی نبی کريمﷺ په خپله برخه پکی درلوده ..

(۱) ابن هشام، شرح مواهب جلد ۳ /ص/ ۸۰)

سیف لودین کتابتون

د تبوک له غزا څخه پاته سوي وو !

رسول الله ﷺ چې کله تبوک ته ولاړی نو مخلص مؤمنان هم ورسره وو د منافقینو یوه ډله پاته سوه او یو شمیر مؤمنان هم پاته سو دوئ د نفاق په وجه نه بلکې د بشریت د کمزوری په غوښتنه د ګرمی او د میوو د اخیستلو او د قحطی له کبله یو شمیر خلک پاته سو ..

د ابوذر غفاری ﷺ اوښ ډیر خوار او کمزوری وو ده دا فکر وکی چې تر څلورو رځو پوری به اوښ خوراک وکی او د تلو وړ به سی بیا به د نبی کریم ﷺ سره یو ځای سم کله چې نو موړی له اوښه ناهیلی سو نو خپله توښه او وسله یې په شا واخیسته او پلی روان سو او یو ائی تبوک ته ورسیدی رسول الله ﷺ چې کله ولیدی وې فرمایل : الله ﷻ دی په ابوذر ﷺ باندی رحم وکړی یوائی راروان دی یوائی به مری او یوائی به راپورته کیږی بیا وروسته همداسی وسو په ربزه کی وفات سو هیڅوک له ده سره نه وو ناڅاپه عبدالله ابن مسعود ﷺ له کوفی راروان وو او ابوذر ﷺ یې ولیدی د ته یې کفن وزکي (١)

په معجم طبرانی کی له ابو خیثمه ﷺ څخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ تبوک ته روان سو اوزه په مدینه منوره کې پاته سوم ډیره ګرمی وه یوه ورځ غرمه په باغ کې پر سره ویاله ناست وم او کورو الامی ډوډۍ راوړه کیښوده کله چې ما د خپل حالت انځور واخیستی سمدستی می په زړه کې دا فکر پیدا سو چې والله ﷻ دا خو ډیره بی انصافی ده چې رسول الله ﷺ په ګرمی او تکلیفو او سفر کی دی او زه وسړی سایې ته ناست یم خپل عیش او آرام کوم راولاړ سوم او څه خورماوی می له ځان سره راواخیستی او په اوښ باندی سپور سوم او ډیر تیز ولاړم کله چې لښکر په مخه راغلی نو رسول الله ﷺ له لیری ولیدم وې فرمایل : ابو خیثمه ﷺ راروان دی زه چې کله ورسیدم پیښه مې ورته بیان کړه نبی کریم ﷺ زما لپاره د خیر دعا وکړه (٢)

له دې مبارکانو څخه یو کعب بن مالک ﷺ او بل مرارة بن ربیع ﷺ او هلال بن امیة ﷺ هم وو په صحیح بخاری کې له کعب بن مالک ﷺ څخه روایت سوی دی وایې کله چې رسول الله ﷺ له مدینی منوری څخه روان سو زه هم د سفر د سامان په تیار ولو بوخت، وم زما دا خیال وو چې په یو دوو ورځو کی به سامان تیار سی او له نبی کریم ﷺ سره به یو ځای سم په دې وخت کې وځنډیدم او قافله لیری ولاړه او په مدینه منوره کې له معذور و خلکو او منافقینو پرته بل څوک نه وو پاته کله چې به ما دا حالت ولیدی نو ډیر به خفه سوم ، کله چې نبی کریم ﷺ له تبوک راغلی نو منافقین راغلو او د دروغو عذرونه یې وړاندی کړل نبی کریم ﷺ په ښکاره هیڅ ونه ویل د دوئ عذرونه یې ومنل او د زړو حال یې الله ﷻ ته وسپاری (د ابن عائذ په مغازی کې راځی چې کعب بن مالک ﷺ وایې چې ما دا نیت وکړ چې داسی به نه کوم

(١) شرح مواهب جلد ٣ /ص /٧١)
(٢) فتح الباری جلد ٨ /ص /٨٨)

سيف لودين كتابتون

چې له غزا هم پاتې سوم او د الله رسول ﷺ ته به دروغ هم وایم بلکې رښتیا به وایم نو کله چې
د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سوم او سلام مې وکړ نبي کریم ﷺ مخ را څخه واړوی
ماوویل اې د الله نبي ﷺ ته زما څخه ولې مخ اړوی قسم په الله ﷻ زه منافق نه یم او نه ما ته
شک راپیښ سوی دی او نه له دین اسلام اوښتی یم؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل بیا نو ولې پاته
سوی ماوویل یا رسول الله ﷺ زه که له یو دنیادار سره ناست وای نو داسې خبرې به مې
جوړې کړې وی چې د هغه غصه به سړه سوې وه مګر ته د الله رسول ﷺ یې که نن دروغ در ته
ووایم او تا راضي هم کړم خو صبا به الله تعالی تا له ما څخه خفه کوي او که رښتیا ووایم ته به
په هغه خفه سې خو زما د الله ﷻ له فضل او مهربانۍ څخه امید سته چې هغه به ما وبخښي
رښتیا هم دادی چې زما هیڅ عذر نسته زه ګنهګار یم. نبي کریم ﷺ وفرمایل ده رښتیا وویل
ښه اوس ولاړ سه تر څو چې الله تعالی ستا په اړه څه حکم نازل کړي دغه رنګه مرارة بن ربیع
ؓ او هلال بن امیة ؓ هم د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او د خپلې ګناه اقرار یې
وکي، نبي کریم ﷺ دا حکم وکي چې تر پنځوس ورځو پورې به یو سړی له دوئ دریو سره
خبرې نه کوي او نه به څه اړیکې ور سره نیسي ټولو خلکو له موږ سره د سلام او خبرې
پرېښودې خپلوان دوستان او ملګري ټول پردي راته ښکاریدل کعب ؓ وایې چې زما دوه
ملګري خوله ډېره خفګان په کور کې کښیناستل شپه او ورځ به یې ژړل او فریاد و نه کول
خو زه ځوان وم جماعت ته به حاضریدم لنډه دا چې پنځه ورځې په دې خفګان کې
پر موږ تیرې سوې د الله ﷻ فراخه ځمکه پر موږ تنګه سوه تر ټولو ډېر په دې اندیښمن وو چې
که اوس په دې وخت کې مړه سو نو رسول الله ﷺ او مسلمانان به زموږ د جنازې لمونځ هم نه
کوي، تر پنځوس ورځو پورې په دې پریشانی او خفګان اویا ځي والې کې وو تر پنځوس
ورځې وروسته د سلع غره له خوا یو آواز کو نکي داسې نعره وکړه (یا کعب بن مالک ابشر) اې
کعب بن مالک ؓ زېرې مې درباندې. د دې غږ په اورېدو سره الله ﷻ ته پر سجده پریوتم
او پوه سوم چې الله ﷻ زموږ توبه قبوله کړې ده رسول الله ﷺ اعلان وکي چې د دوئ توبه
قبوله سوې ده له هر لوري خلک ما ته او زما د واړه دوستانو ته د مبارکۍ لپاره په منډه راتلل
د ابن اسحق په روایت کې راغلي چې داسې مبارکي یې راکوله (لِتَهْنِكَ تَوْبَةُ اللهِ عَلَيْكَ) د الله
ﷻ په دربار کې توبه قبلول دې مبارک سه، لومړی سړی چې ما ته مبارکي راکړه هغه ته
ما سمدستي دوې جامې کالي ورکړه تردې وروسته د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سوم
نبي کریم ﷺ په مسجد کې ناست وو کله چې زه مسجد ته داخل سوم طلحه بن عبید الله ؓ په
منډه راغلی او له ما سره یې سترې مه شې وکوله او مبارکي یې راکړه کعب ؓ وایې له
ناستو کسانو بل هیڅوک هم را ولاړ نه سو قسم په الله ﷻ د طلحه ؓ نیکي به هیڅکله نه

سيف لودين كتابتون

هیروم د نبی کریم ﷺ مخ مبارک د څورلسم د سپوږمۍ په شان ځلیدی ما هغه مبارک ﷺ ته سلام وکړ رسول الله ﷺ وفرمایل : (ابشر بخير يوم مر عليك منذ ولدتك امك) ستا دی هغه ورځ مبارکه سی چی تر ټولو ورځو غوره ده له هغه وخت چی ته مور زیږولی یې ،، کعب بن مالک ؓ وایې په کومه ورځ چی په اسلام کی داخل سوم بیشکه چی هغه ورځ تر ټولو ورځو غوره وه مګر په حقیقت کې دا ورځ تر هغې ورځی هم غوره وه ځکه په دې ورځ کې د الله تعالی په دربار کې زما توبه قبوله سوه او دا د کعب ؓ په ایمان او اخلاص باندی د تل لپاره مهر سو او دا آیتونه د دوئ درې صحابه ؓ په باره کې نازل سو :

﴿لَقَد تَّابَ اللهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِن بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَؤُوفٌ رَّحِيمٌ﴾ (۱۱۷) ﴿وَعَلَى الثَّلاَثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّواْ أَن لاَّ مَلْجَأَ مِنَ اللهِ إِلاَّ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُواْ إِنَّ اللهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ﴾ (۱۱۸) ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ﴾ (۱۱۹) سورة التوبه)

ژباړه :په تحقیق سره الله تعالی د خپل خاص رحمت په نظر وکتل پیغمبر ﷺ او مهاجرینو او انصارو ؓ ته کوم چی د تنګۍ او تکلیف په وخت کې د نبی ؑ پیروی وکړه وروسته تردی چی د یوی ډلی زړه نژدی وو او ښتلو ته بیا الله ﷻ په دوئ باندی مهربانی وکړه او الله ﷻ ډیر مهربان کونکی او الله تعالی مهربانی وکړه په هغه درې کسانو باندی هم چی د هغوئ معامله پاته سوی وه تردی چی فراخه ځمکه پر دوئ تنګه سوه او د دوئ ځانونه هم پر دوئ باندی تنګ سو او دوئ په دې پوه سو چی د الله ﷻ له نیولو بل د پناه ځای نسته پرته له هغه نو بیا الله تعالی پر دوئ باندی مهربانی وکړه او د دوئ ګناه یې وبښله د دی لپاره چی دوئ الله ﷻ ته رجوع وکړی بیشکه الله ﷻ ډیر توبه قبلونکی او مهربان ذات دی ای مومنانو له الله ﷻ څخه ویریږی او له رښتینو سره ملګری سی ..

کعب ؓ وایې چی ما غوښتنه وکړه چی یا رسول الله ﷺ د دې توبه په شکر کې زه خپل ټول مال خیرات کوم نبی کریم ﷺ وفرمایل څه پریږده په خیبر کې چی زما د ځمکی کومه برخه وه ما هغه پریښوده او نور ټول مال می خیرات کی او غوښتنه می وکړه چی یا رسول الله ﷺ الله ﷻ ما ته یوا ځې د رښتیا په ویلو سره خلاصون راکی زه به خپله توبه داسی ساتم چی تر مرګه به هیڅکله له رښتیا پرته بل څه نه وایم (بخاری وفتح الباری جلد ۸ ص ۸۶/ حدیث کعب بن مالک ؓ)

د هجرت نهم ۹ کال د میانی په میاشت کې ابوبکر صدیق ؓ د حج امیر و ټاکل سو !

د ذی القعده په میاشت کې رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق ؓ د حج امیر و ټاکی او مکی مکرمی ته له درې سوه تنه سره ولیږی او شل اوښان یې د قربانی کولو لپاره ور سره کړه ابوبکر صدیق ؓ یې ځکه ولیږی چی په خلکو باندی د اسلامی شریعت برابر حج وکړی

اودسورت برائت ځلویښت آیتونه چې دپریکړې د ماتونکوپه اړه نازل سوی وو دهغو
اعلان وکوی په دې آیاتوکې داوو چې ترسږ کال وروسته به مشرکین مسجدحرام ته نه
داخلیږی اوپربیت الله شریف به لوڅ طواف ځوک نه کوی اوله چاسره چې رسول الله ﷺ
پریکړه کړې وی هغه به ترهغه وخته پورې پاته وی اوله کوموخلکوسره چې هیڅ پریکړه
نسته دوئ دلوی اخترله ورځې بیاترځلورومیاشتوپورې وخت لری ، دابوبکرصدیق رضی الله عنه له
روانیدوروسته نبی کریم ﷺ دافکروکی چې دااعلان بایدداسې چاله خواوسی چې هغه
دپریکړه کونکې له کورنۍ ځخه وی ځکه عرب په داسی کاروکې دکورنۍ اوخپلوانوخبره
منی ځکه نبی کریم ﷺ علی رضی الله عنه راوغوښتی اوخپله اوښه عضباء یې ورکړه چې په
ابوبکرصدیق رضی الله عنه پسی ورسه اودبرائت اعلان دحج په وخت کې ته وکړه اوله
یوشمیرروایاتوځخه معلومیږی چې دبرائت آیتونه دابوبکرصدیق رضی الله عنه له روانیدو وروسته
نازل سوی دی ځکه یې وروسته علی رضی الله عنه دبرائت دآیاتوداعلان لپاره ولیږی ابوبکرصدیق
رضی الله عنه چې کله اوښه ولیده دافکریې وکی چې رسول الله ﷺ په خپله تشریف راوړی دی
ودریدی کله چې یې وکتل علی رضی الله عنه دی پوښتنه یې وکړه چې (امیرٌ اومأمورٌ) یعنی امیر رالیږل
سوی یې اوکه تابع یې ؟ علی رضی الله عنه وویل ماموریم یعنی زه به ستاترامرلاندی یم یواځې
دسورة برائت دآیاتوداعلان لپاره راغلی یم ، ابوبکرصدیق رضی الله عنه په خلکوحج وکی اودحج
په وخت کې یې خطبه هم ولوسته اوعلی رضی الله عنه یواځې دسورة برائت آیتونه اودهغومضمون
وجمری عقبی ته نژدی دقربانۍ په ورځ خلکوته واورول ، ابوبکرصدیق رضی الله عنه ځه خلک
دعلی رضی الله عنه دمرستی لپاره وټاکل چې بیااعلان وکړی دقربانۍ ورځ په منی کې دااعلان
خلکوته واورول سو : بیت الله شریف ته به هیڅ یوکافراومشرک نه سی داخلیدای اونه به
په راتلونکی کال کې مشرک حج ته راځی اونه به لوڅ طواف کیږی اودچاچې کومه ژمنه
له نبی کریم ﷺ سره وی هغه به ترخپله وخت پاته وی اوله چاسره چې ژمنه نسته یادژمنی
وخت معلوم نه وی نوهغه ته ځلورمیاشتی وخت سته که په دی وخت کې مسلمان نه سو
نوځلورمیاشتی وروسته چې هرځای پیداسی هم هلته به وژل کیږی ، په یوحدیث کې
راغلی دی چې کله چې علی رضی الله عنه ذوالحلیفه ته ورسیدی له ابوبکرصدیق رضی الله عنه سره یې ولیدل
اووې ویل چې زه رسول الله ﷺ دبرائت داعلان لپاره رالیږلی یم ابوبکرصدیق رضی الله عنه
دافکروکی چې کیدای سی زماپه اړه ځه حکم نازل سوی وی سمدستی مدینې منورې ته
راستون سو اوپوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ آیازماپه اړه کوم حکم نازل سوی دی ؟
نبی کریم ﷺ وفرمایل : نه ته خوزمادغارثور ملګری یې اوپه حوض کوثرباندی به هم
زماسره ملګری یې مګر دبرائت اعلان پرته له مایازمادکورنۍ له غړی بل ځوک نه سی
(فتح الباری جلد ۸ / ص / ۶۵)

دهجرت دنهم کال بیلابیلې پیښې

(۱) لومړی په همدې کال دمیانی په میاشت کې رئیس المنافقین عبدالله بن ابی بن سلول مړشو دده په اړه داآیت نازل سو : ﴿وَلاَ تُصَلِّ عَلَىٰٓ اَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ اَبَدًا وَلاَ تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهٖٓ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَهُمْ فَاسِقُوْنَ﴾ (۸۴ آیت سورة التوبه) شرح مواهب جلد۳/ص/۲۹۵)

ژباړه : ته پردې منافقینوپریوه باندی هم دجنازی لمونځ مه کوه اومه ددوئ پرقبروباندی دریږه دې خلکوپه الله ﷻ اودهغه په رسول ﷺ باندی کفرکړی دی اودالله ﷻ څخه سرغړونکی مړه دی..

مسئله : دکافرپه جنازه کې ګډون اودهغه په قبرباندی دریدل له شکه خلاص ناروادی کافرکه هندووی که انګریزوی که امریکایي وی که برطانوی په کفرکې ټوله سره یودی اوشرعاً دمشرک اودبت پرست کافرکفر دکتابی کافرترکفرسخت دی

(۲) دویم : په همدې کال دحبشه پاچانجاشی وفات سو اودوحی په ذریعه نبی کریم ﷺ ته په هغه ورځ دده دوفات خبرورکول سو نبی کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ راټول کړه اوغائبانه جنازه یې وکړه

(۳) دریم : په همدې کال دسوددحراموالی حکم نازل سو اویوکال وروسته نبی کریم ﷺ په حجة الوداع کې دسوددحراموالی عام اعلان وکی.

(۴) څلورم : په همدی کال دښځوسره دلعان حکم نازل سو چی دهغه پوره بیان په سورة نورکې ذکرسوی دی

(۵) پنځم : کوم خلک چی په اسلام کې داخل نه سوبلکې یوائی داسلام په سیوری کې هستوګنه غوره که دهغوئ په اړه په همدې کال کې دجزیه حکم نازل سو قال الله تبارک وتعالی ﴿قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لاَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلاَ بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَلاَ يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلاَ يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ﴾ (۲۹ آیت سورة التوبه)

جزیه له جزاء څخه جوړدی یعنی دادکفرجزاء ده دذلت اوسپکاوی په ډول به له هوښیاربالغ سړی څخه اخیستل کیږی دجزیه مقصددادی چی دکفردبدبه اوزور پای ته رسیدلی دی اواسلام غالب اودحاکم دی و داسې خلکوته دشریعت په اصطلاح کې ذمیان وایې چی له ذمه څخه جوړدی یعنی دهغوئ دځان اومال اوعزت اودهغوئ دحقوق الله ﷻ اودهغه درسول ﷺ دمسلمانانوپه ثیرذمه واردی خودایادساتی چی قرآن اوحدیث چی له کافرانوڅخه دجزیه اخیستلوکوم حکم کړی دی دادځان دساتنی بدله نه ده یعنی دجزیه داعلت نه دی چی ذمی دخپل ځان په خپله ساتنه نه سی کولای موږیې له دښمنانوساتوځکه ساتنه خودذمیانودښځواوماشومانواوسپین ږیرواوپادریانوهم کیږی مګر پرهغوئ باندی جزیه نسته بلکې جزیه یوائی له هغه خلکواخیستل کیږی چی په جهادکې دوژولومستحق وی ځکه فقهاء کراموليکلی دی چی جزیه دوژلوبدل دی یوائی له ازاد،عاقل اوبالغ سړی څخه اخیستل کیږی چی دوژلومستحق وی اوله کوموخلکوسره چی په دې اړه معاهده سوی وی چی له دواړولوریوبه هریودخپل اخیتاروی اوخوندی وی نودشریعت په اصطلاح کې وداسی خلکوته معاهدین وایې

سیف لودین کتابتون

عام الوفود : دهجرت لسم كال دپلاوي اووفدونوكال

په عربوكې ترټولويه قبيله دقريشووه ددوئ مشرتوب هرچامنى داچې قريش داسماعيل عليه السلام له اولادوڅخه دى له دې څخه هيچا انكارنه كړى په پوهى هوښيارتيا سخاوت دلاورى مشهور وو دبيت الله شريف دعزتمند ښار هستوګن وو مګر داسلام مخالفت اودښمنى ته يې ملا وتړله دنورو عربو پريكړه په قريشوپورى تړلى وه دوئ دوخت انتظاركوى چې قريش له رسول الله ﷺ سره څه كوى دقريشوځوانانوخو په لومړى سركې اسلام ومنى مګرسپين ږيرى پاته سو كله چې مكه فتح سوه نوسپين ږيرى هم په اسلام مشرف سو اودرسول الله ﷺ پيروى يې ومنله ، تردې وروسته عرب په دې پوه سو چې دين اسلام يو الهى دين دى خامخابه په ټوله نړۍ كې خپريږى اوهيڅ قوت اوزور ددې دين په مخالفت كې نه سى بريالى كيداى څكه دمكى له فتح وروسته سمدستى له هرلورى سفيران راغله اوله هرى قبيلى وكيلان اوپلاوى به راتلل اودنبى كريم ﷺ په خدمت كې به حاضريدل كله چې به يې داسلام حقانيت ځان ته معلوم كى نوپه خپله به هم مسلمانان سو اودخپل ټول قوم دمسلمان كيدو ژمنه به يې هم وكړه اوبيرته به ستانه سولكه چې الله تعالى فرمايې : ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾ (۱) ﴿وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا﴾ (۲) ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾ (۳) سورة النصر

ژباړه :كله چې دالله ﷻ مرسته اوفتح راسى اوته خلك وويني چې په دين كې ډلى ډلى داخليږى نودالله ﷻ په تسبيح اوحمداواستغفارمشغول سه رښتياهم الله تعالى ډير مهربان ذات دى .

دپلاوى اوهيئتوپيل خوله اتم كال هجرى څخه سوى دى مګر دالړۍ په كال اتم اولسم كې جاروه په دى وجه دې دواړوكلوته عام الوفود وايي يعنى دپلاووكال ابن سعد اودمياطى ددې پلاوو شميرترشپيته زيات ښودلى دى مګر علامه قسطلانى په مواهب كې دپنځه ديرش پلاوو يادونه كړى ده (۱)

لومړى پلاوى دهوازن دقبيلى وو !

دمكى له فتح وروسته لومړنى پلاوى چې نبى كريم ﷺ ته حاضرسوى دى هغه دهوازن قبيلى وو نبى كريم ﷺ په جعرانه كې ووچې دهوازن قبيلى څورلس تنه دخپل مالواوبنديانودخلاصون لپاره راغله اودنبى كريم ﷺ په خدمت كې حاضرسو چې ددې پوره بيان مورږدحنين په غزاكى درته كړى دى په دى پلاوى كې درسول الله ﷺ رضاعى اكاهم وو ځكه حليمه سعديه له همدې قبيلى څخه وه زهيربن صرد سعدى وجشمى ددې پلاوى مشر وو هغه ولاړسو اوغوښتنه وكړه چې يارسول الله ﷺ په دى بنديانوكې ستاخاله ګانى اورضاعى ورېنداړګانى اوپالونكى سته چې يووخت به يې ته له خپلى سينى سره جوخت نيولى يې كه مورږحارث غسانى اونعمان بن منذرته شيدى وركړى واى نودداسى غم په وخت كې به مورږدهغه څخه خامخادمرستى هيله كوله اوته خوترټولوغوره اوښه مكفول يې وروسته يې داشعرونه ولوستل :

(۱) زرقانى جلد ۴ /ص/ ۲/

سیف لودین کتابتون

أُمْنُنْ عَلَيْنَا رَسُولَ اللهِ فِي كَرَمٍ .... فَإِنَّكَ الْمَرْءُ نَرْجُوهُ وَنَنْتَظِرُ

یارسول الله ﷺ په خپل کرم او مهربانی سره پر موږ احسان وکړه بیشکه ته داسی څوک یې چی موږ له تا د مهربانۍ او سخا امید لرونکی او انتظار کونکی یو

أُمْنُنْ عَلَى بَيْضَةٍ قَدْ عَاقَهَا قَدَرٌ .... مُمَزَّقٌ شَمْلُهَا فِي دَهْرِهَا غِيَرُ

پر هغه قوم باندی احسان وکړه چی ددوئ اړتیاوی تقدیر بندی کړی دی دوخت په بدلید وسره ددوئ یوځای والی پاشل سوی دی

يَا خَيْرَ طِفْلٍ وَمَوْلُودٍ وَمُنْتَخَبٍ .... فِي الْعَالَمِينَ إِذَا مَا حُصِّلَ الْبَشَرُ

اې غوره زوکړی او په ټوله دنیاکې غوره سوی له هغه وخت چی بشر پیدا سوی دی

إِنْ لَمْ تُدَارِكْهُمْ نَعْمَاءُ تَنْشُرُهَا .... يَا أَرْجَحَ النَّاسِ حِلْمًا حِينَ تُخْتَبَرُ

که ستا پیرزوینه او نیکی له دوئ خبره نه سی نو دوئ به برباد سی (۱) اې هغه څوک چی د هغه د صبر او زغم تله په ټولو کې درنه ده او د ازموینی په وخت کې د ده صبر او زغم ښکاره کیږی په موږ باندی احسان وکړه ..

أُمْنُنْ عَلَى نِسْوَةٍ قَدْ كُنْتَ تَرْضَعُهَا .... إِذْ فُوكَ تَمْلَؤُهُ مِنْ مَحْضِهَا الدِّرَرُ

پر هغو ښځو باندی احسان وکړه چی ددوئ شیدی به تا څیښلی او ددوئ له شیدو به تا خوله ډکوله

لَا تَجْعَلَنَّا كَمَنْ شَالَتْ نَعَامَتُهُ .... وَاسْتَبْقِ مِنَّا فَإِنَّا مَعْشَرٌ زُهُرٌ

له موږ سره داسی سلوک مه کوه چی ددوئ پښې ښویدلی وی او خپله سخا او مهربانی او احسان د تل د پاره په موږ پریږده موږ عزتمند خلک یو د هیچا نیکی نه هیروو ..

إِنَّا لَنَشْكُرُ لِلنَّعْمَاءِ إِذْ كُفِرَتْ .... وَعِنْدَنَا بَعْدَ هَذَا الْيَوْمِ مُدَّخَرُ

رښتیا هم موږ د نیکی ډیر شکر ادا کونکي یو کله چی خلک د هغه ناشکری کوی .

فَأَلْبِسِ الْعَفْوَ مَنْ قَدْ كُنْتَ تَرْضَعُهُ .... مِنْ أُمَّهَاتِكَ إِنَّ الْعَفْوَ مُشْتَهَرُ

ته هغه مورانی چی تا د دوئ شیدی رودلی دی د خپلی مهربانۍ په لمن کې پټی کړه مگر ستا ښښنه خو ډیره مشهوره ده ..

يَا خَيْرَ مَنْ مَرِحَتْ كُمْتُ الْجِيَادِ بِهِ .... عِنْدَ الْهِيَاجِ إِذَا مَا اسْتَوْقَدَ الشَّرَرُ

اې هغه څوک ! چی د هغه په سپرید وسره د کمیت په نامه آسان خوشاله او مستی کوی کله چی د جنگ اور بل سی ..

إِنَّا نُؤَمِّلُ عَفْوًا مِنْكَ تُلْبِسُهُ .... هَذِي الْبَرِيَّةَ إِذْ تَعْفُو وَتَنْتَصِرُ

موږ له تا څخه د داسی ښښنی امید لرو چی همدا ټول خلک پکې پټ کړی ..

فَاغْفِرْ عَفَا اللهُ عَمَّا أَنْتَ رَاهِبُهُ .... يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِذْ يُهْدَى لَكَ الظَّفَرُ

ته موږ وبخښه الله تعالی دې تا د قیامت په ورځ له ویری خوندی وساتی او تا دې الله ﷻ کامیاب کړی ..

په یوشمیر روایاتو کې څه نور شعرونه هم راغلی دی د تفصیل لپاره الروض الانف جلد ۲ /ص / ۳۰۶ او عیون الاثر جلد ۲ /ص / ۱۹۶ او زرقانی جلد ۴ /ص / ۳ وګوری ..

سيف لودين كتابتون

رسول الله صلى الله عليه وسلم ددوئ په څواب کې وفرمايل !

نبی کريم ﷺ وفرمايل ماستاسو ډير انتظار وکي کله چي تاسونه راغلاست نومال اوسامانونه او ټول بنديان مي پر خلکو وويشل اوس په دوو شيانوکې يو غوره کي ، مال اوسامانونه غواړی که خپل اهل او عيال خلاصول غواړی ؟ له دې دوو شيانو يو خوښ کي . پلاوی وويل زموږ خلک موږ ته ترمال ډير ګران دی ، نبی کريم ﷺ وفرمايل زما او زما د کورنۍ بنی عبدالمطلب چی کومه برخه ده هغه خوما تاسو ته درکړه پاته دنورو مسلمانانو په واک کې چې څوک ورغلی دی دهغه سپارښتنه به وکړم ، کله چی نبی کريم ﷺ ددوئ سپارښتنه وکړه ټولو مسلمانانو په ډيره خوشالۍ ومنله ټول بنديان يې آزاد کړه دوو یا څلور تنو څه فکر وکي ، نبی کريم ﷺ دوئ ته بدله ورکړه هغه څلور بنديان هم خلاص سو پلاوی خپل شپږ زره بنديان ښځی او ماشومان ټول له ځان سره بوتلل او ولاړو دنبی کريم ﷺ دسپارښت پوره قصه دحنين په غزاکې مخکې بيان سوی دی ځکه موږ د لته تفصيل ته اړتيا نه ليدله ..

دويم پلاوی دثقيف قبيلي دهجرت ۹ کال رمضان المبارک

دهجرت نهم کال دروژی مبارکه مياشت وه دثقيف قبيلي پلاوی داسلام دراوړلو اوله نبی کريم ﷺ سره دبيعت لپاره مدينې منورې ته راغلی ،

داهغه ثقيف دی چی دوئ نبی کريم ﷺ او صحابه کرام ﷺ ته دطائف په محاصره کې ډير تکليف رسولی وو مسلمانانو دطائف کلا پريښوده په مات زړه بيرته راغلو کلی چی نبی کريم ﷺ دطائف محاصره پريښوده او راروان سو چاغوښتنه ځنی وکړه چی يارسول الله ﷺ دوئ ته ښيرا وکړه ددوئ غشو موږ وسوځولو ، نبی کريم ﷺ وفرمايل (اَللّٰهُمَّ اهْدِ ثَقِيْفًا وَاْتِ بِهِمْ مُسْلِمِيْنَ ، رواه الترمذی وحسنه) اې الله ﷻ ثقيف قبيلي ته هدايت وکړی او مسلمانان يې ماته راولی ..

دنبی کريم ﷺ دعا قبوله سوه دعروه بن مسعود ثقفی له شهادت اته مياشتی وروسته کله چی نبی کريم ﷺ دتبوک له غزا راستون سو دوئ دنبی کريم ﷺ په مخکی په مدينه منوره کې حاضر سو او اسلام يې ومنی اوله نبی کريم ﷺ سره په لاس بيعت وکی داپلاوی دعبد ياليل په مشری شپږ تنه وو کله چی دوئ مدينی ته نژدی ورسيدل مسلمانان ددوئ په راتګ ډير خوشاله سو ترټولو مخکی مغيره بن شعبه ﷺ دوئ وليدل سمدستی يې منډه کړه چی زه ځم پررسول الله ﷺ باندی زيری کوم په لاره کې ابوبکر صديق ﷺ په مخه ورغلی کله چی هغه خبر سو نو مغيره ﷺ ته يې قسم ورکی ورته وې ويل چی ته ماته اجازه راکړه چی زه ولاړ سم او په رسول الله ﷺ باندی زيری و کړم مغيره ﷺ ورسره ومنله ابوبکر صديق ﷺ ډير چټک ولاړی رسول الله ﷺ ته يې دپلاوی دراتلو خبر ورکي رسو ل الله ﷺ ددوئ داوسيدو لپاره په مسجد نبوی کی يوه خيمه ودروله ددې لپاره چی دوئ قرآن واوری

سیف لودین کتابتون

اولمونځ کونکي ووینی دپلاوی میمله پالنه او خدمت یې خالد بن سعید بن العاص ؓ ته وسپاری ترڅو چې به خالد بن سعید ؓ خوراک نه وخوری دهغه پلاوی خلکو به څه نه خوړل او هرڅه خبره چې به یې له رسول الله ﷺ سره کوله هغه به یې دخالد بن سعید ؓ له لاری کوله خوپلاوی دخالد بن سعید ؓ په وسیله عجیب شرطونه وړاندی کړه :

اول (۱) داچې مورته دی لمونځ معاف سی

دویم (۲) داچې لات چې زموږ لوی بت دی هغه دی تردرې کاله پوری نه ماتیږی ځکه ماشومان او ښځی په دی سره په فتنه کې لویدلی دی ..

دریم (۳) داچې زموږ بتان موږ په خپلو لاسونه ماته وو .

رسول الله ﷺ لومړنی دوه شرطونه قطعاً ونه منل او داسی یې وفرمایل (لاخیر فی دین لاصلاة فیه) په هغه دین کې هیڅ خیرنسته چې په هغه کې لمونځ نه وی

او ددریم شرط په اړه یې وویل چې داکیدای سی ، دوئ ټولو اسلام ومنی او بیرته خپلی سیمی ته ستانه سو عثمان بن ابی العاص ؓ چې په دوئ کې دلږ عمر وو هغه یې پردوئ امیروټاکی له ده سره دعلم اوقرآن اواسلامی مسئلودزدکړی ډیره مینه وه ځکه دابوبکرصدیق ؓ په مشوره هغه پردوئ امیروټاکل سو اوله دوئ سره یې ابوسفیان بن حرب اومغیره بن شعبه ؓ دلات دنړولولپاره ولیږل ابوسفیان دیوه عذرله کبله پاته سو خومغیره ؓ ولاړی ، کله چې مغیره ؓ بت نړوی نودثقیف ښځی لوڅ سر اولوڅي پښي له کورورا ووتل حیران ولاړوو چې اوس به څه کیږی اوکوم عذاب به نازلیږی خومغیره ؓ ور وړاندی سو اوله بت سره یې کولنګ پورته کي بت دوړی وړی پرمخی راولویدی ددوئ جوړکړی خدای پرځمکه راولویدی دوئ په حیرت ورته کتل وروسته په بتخانه کې چې کوم ګیڼی اوپیسی اونور ارزښتناک شیان وو هغه ټول یې راټول کړه اوبتخانه یې وسوځوله دبتخانی له مال څخه دعروه بن مسعودثقفی ؓ دزوی ابوفلیح ؓ اودعروه ورارہ قارب بن الاسود ؓ قرضونه آداسوه اوڅه چې پاته سو هغه رسول الله ﷺ ته یووړل رسول الله ﷺ سمدستی هغه پرمسلمانانو وویشل اودالله ﷻ شکریې آداکی چې الله ﷻ دخپل دین مرسته وکړه اوخپل پیغمبر ﷺ ته یې عزت ورکي عروه بن مسعود ؓ دشهادت څخه وروسته چې کله دطایف خلک مسلمانان سو نودثقیف دپلاوی ترحاضریدومخکې ابوفلیح بن عروة ؓ اوقارب بن الاسود ؓ دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو اواسلام یې راوړی اوله نبی کریم ﷺ څخه یې غوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ دلات له بتخانی څخه دی زموږ دپلار یعنی عروه ؓ اوداسود پورونه آداسی عروه ؓ اواسود دواړه سکه روڼه وو عروه خواسلام راوړی اوشهید سو مخکې موږ بیان درته وکی مګر اسود پرکفر مړسو ، ابوفلیح ؓ دعروه ؓ زوی دی اوقارب ؓ داسود زوی دی دواړو دخپل پلار دپورو دآداکولو غوښتنه وکړه ، نبی کریم ﷺ وفرمایل اسود خومشرک وو ، دهغه

سيف لودين كتابتون

پورونه زه څنګه آدا کړم قارب رضی الله عنه وویل یارسول الله ﷺ ربښتیا هم هغه مشرک وو خو پورونه یې زما پرذمه پاته دی نبی کریم ﷺ ابوسفیان رضی الله عنه ته وفرمایل چې دلات له بتخانې چې کوم مال لاس ته راغلی دی لومړی دابوفلیح رضی الله عنه او قارب رضی الله عنه پورونه ځنې آدا کړه (۱)

دریم (۳) دبنی عامربن صعصعه قبیلې پلاوی !

دتبوک له راستنیدو وروسته بنوعامر بن صعصعه دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو په دوئ کې عامربن طفیل اواربد بن قیس هم وو دخبروپه جریان کې دې خلکو نبی کریم ﷺ ته وویل (انت سیدنا) ته زموږ سردار یې ، نبی کریم ﷺ وفرمایل خپله خبره کوی شیطان دې په تاسوپورې مسخری ونه کړی ، څکه سردار یوائې الله ﷻ دی په ښکاره خویې داچاپلوسی وکړه خوپه پټه عامراربدته ویلی وو چې زه چې کله له نبی کریم ﷺ سره په خبروبوخت سم ته سمدستي دتورې وار پر وکړه ، عامر چې کله له نبی کریم ﷺ سره خبرې پیل کړې ویل یې اې محمد ﷺ ما دخپل ځان مخلص دوست وګرزوه ، نبی کریم ﷺ وفرمایل نه هیڅکله تازه خپل دوست نه بولم ترڅوچې ته پرالله ﷻ باندې ایمان نه راوړې ، عامر وویل که زه مسلمان سم نوته به ماته څه راکړې ، نبی کریم ﷺ وفرمایل تراسلام راوړلووروسته به ستاهغه حقوق اواحکام وی کوم چې دټولو مسلمانانو دی ، عامروویل ته به ماته دخپل ځان څخه وروسته حکومت اوخلافت راکوی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل هیڅېری نه ، عامر وویل ښه په کلیو اوبانډوکې به زه حکومت کوم اوپه ښاروا وآبادۍ کې به ته حکومت کوی اوکه داسی نه وی نوزه به غطفان له ځان سره ملګری کړم اوپرتا باندی به حمله وکوم اومدینه به له سپرو اوپیاده ووڅخه ډکه کړم ، نبی کریم ﷺ وفرمایل الله ﷻ دې تاته وس نه درکوی خبرې شروع وی کله چې دواړه ولاړسو نبی کریم ﷺ دعاء وکړه ، اې الله ﷻ دعامربن طفیل له شره ماوژغورې اودهغه قوم ته سمه لاره وښیې کله چې دوئ دباندې راووتل نوعامراربدته وویل افسوس ماستاانتظارکوی مګر تاهیڅ هم ونه کړل اربد وویل عجیبه پیښه وه ماچې به کله دتورې دراایستلونیت وکی نوخامخابه یوشئ زموږپه مینځ کې دریدی یوځل داوسپینې دیوال ماولیدی اوبل ځل مایواوښ ولید چې غوښتل یې زماسرمیده کی کله چې دوئ دنبی کریم ﷺ څخه ولاړو نوعامربن طفیل خوپه لاره کې دطاعون په مرض هلاک سو په عربوکې خودبستری مرګ شرم اوپیغور ګڼل کیدی څکه عامربن طفیل وویل ماپرآس سپورکه اوپه لاس کې یوه نیزه راکړه کله چې دئ پرآس سپورسو اونیزه یې په لاس کې وه نوداسې یې وویل یاملک الموت ابرزلی ، اې دمرګ ملکې زماخواته راسه دایې وویل اوله آس راولویدی اوپه همدغه ځای کې ښخ سو کله چې پلاوی دبنوعامرځمکې ته ورسیدل نوخلکوله اربد څخه دحالاتوپوښتنه وکړه اربدوویل دهغه دین هیڅ شئ هم نه دی قسم په الله ﷻ هغه سړی (نبی کریم ﷺ) ته اشاره

(۱) زرقانی جلد ۴ /ص/ ۶ـــ ۹)

سیف لودین کتابتون

وه که په دی وخت کې ماته مخامخ سی نو په غشو به هغه سوری سوری کړم دوې ورځې لانه وې تیرې سوې چې اربد په اوښ سپور سو له کلې دباندې ووتی کله چې له کلي ووتی سمدستی داسمان له خواپرده باندې تندر بریښنا ولویده چې په دې سره اربد هم جهنم ته ورسیدی عامر او اربد دواړه بدبخته داسلام له دولت بې برخې پاته سو او دپلاوې ډیرو خلکو اسلام راوړی، او بیرته خپلې سیمې ته ستانه سو،، (۱)

څلورم پلاوی دعبدالقیس وو !

قیس ډیره لویه قبیله وه دبحرین اوسیدونکی وو ددې قبیلې پلاوی دوه ځله نبی کریمﷺ ته راغلی دی لومړی پلاوی دمکې ترفتح مخکې راغلی دی ډیر یې دهجرت په پنځم کال یاتر دی هم مخکې راغلی دی په دې ځل پلاوی کې دیارلس یاڅورلس تنه وو نبی کریمﷺ وفرمایل (مرحبا القوم غیرخزایا ولاندامی) ښه راغلی وایم هغه خلکوته چې نه رسوا سو اونه شرمنده سو یعنی په خوشالۍ خپله مسلمانان سو دجنګه وروسته نه دې مسلمانان سوی چې وروسته بیادوئ شرمیدلای پلاوی غوښتنه وکړه چې یارسول اللهﷺ زموږ او ستاپه مینځ کې دمصر قبیلې مشرکان دی یوائې په عزتمند ومیاشتوکې موږ ستاپه خدمت کې حاضریدای سو ځکه په دې میاشتوکې عرب غلا او لوټ حرام ګڼي نو ته موږ ته داسې جامع او مختصر عمل راوښیه چې دهغه په کولو سره موږ جنت ته داخل سو او خپل کلیوالو ته هم دهغه بلنه ورکړو نبی کریمﷺ وفرمایل په اللهﷻ باندې ایمان راوړی او شاهدی ورکړی چې اللهﷻ یو دی له هغه پرته څوک دبندګۍ وړ نسته او لمونځ کوی، زکوة ورکوی او دغنیمت دمال پنځمه برخه دالله ﷻ لپاره ورکوي او په څلور ولوښوکې یې دنبیذله جوړولو څخه منع وکړه (۲) دباء، نقیر، ختم، مزفت، دادصحیح بخاری روایت دی دمسند احمد او ابوداؤد په روایت کې راغلی دی چې کله عبدالقیس پلاوی مدینې ته راورسیدی نو دنبی کریمﷺ دلیدلو په مینه او تلوسه کې دوئ له خپلو سپر لیو ډیر په تیزی راکښته سو او دنبی کریمﷺ په خدمت کې حاضر سو او لاس مبارک یې ورمچ کړه په دوئ کې اشبح عبدالقیس مبهی هم وو چې دده اصلی نوم منذر دی دئ په ټولو کې دلږ عمروو هغه لومړی ټول اوښان چوکړل او له ټولو یې سامان راښکته کړی او یوځای یې کیښودی بیا یې له خپلې غوټۍ دوې جوړې پاکې سپینې جامې راوایستی هغه یې واغوستی وروسته بیادنبی کریمﷺ په خدمت کې حاضر سو او له نبی کریمﷺ سره ستړی مشی وکړه او دهغه مبارک لاس یې ورمچ کي نبی کریمﷺ وفرمایل په تاکې دوه داسې خویونه دی چې هغه دواړه دالله ﷻ او دهغه درسولﷺ ډیرخوښ دی، یو حلم. یعنی زغم بردباری

(۱) زادالمعاد جلد ۳ /ص /۲۹)

دویم وقار ، داد او اطمینان اشبح رضی الله عنه وویل یارسول الله ﷺ دا خویونه په ماکې زما په کړوسره راغلی دی که نه فطری دی یعنی الله ﷻ پیدا کړی دی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل الله ﷻ ته پردې خویو پیدا کړی یې اشبح رضی الله عنه وویل (الحمد لله الذی جبلنی علی خلتین یحبهما الله ورسوله) صفت او ثنا هغه ذات لره ده چی زه یې پرداسی خویو پیدا کړی یم چی هغه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ خوښ دی ..

دادلومړی پلاوی بیان وو دویم ځل پلاوی دعبدالقیس په اتم هجری کال یا نهم هجری کې راغلی دی ددې ځل په پلاوی کې څلویښت تنه وو دصحیح ابن حبان په روایت کې راغلی دی چی نبی کریم ﷺ دوئ ته وفرمایل (مالی اراکم الوانکم تغیرت) ستاسو په رنګو څه سوی دی چی ماته بدښکاری . له دې خبری معلومیږی چی دوئ مخکې هم راغلی وو (۱)

پنځم دبنی حنیفه پلاوی په کال نهم ۹ هجری کی !

دبنی حنیفه پلاوی دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضر سو په دوئ کې مشهور کذاب چالاک او فتنه پورته کونکي مسیلمة الکذاب هم وو (۲) دوئ دهجرت په نهم کال راغلو مسیلمة الکذاب دغرور او لویې له امله دنبی کریم ﷺ ودربارته نه حاضر سو نبی کریم ﷺ په خپله ودته ورغلی او ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه هم له رسول الله ﷺ سره ملګری وو مسیلمة ته یې داسلام بلنه ورکړه ، مسیلمة الکذاب وویل که ماته تر ځان وروسته خلافت راکوی او خپل نائب مې ټاکی نو زه بیعت درسره کوم نبی کریم ﷺ په لاس مبارک کې دخورمایوه لښته وه نبی کریم ﷺ وفرمایل اې مسیلمة که ته یوه لښته غواړی هم یې نه درکوم او الله تعالی چی ستا په تقدیر کی څه پریکړه کړی ده ته تر هغه تیری نه سی کولای او غالباً ته به هغه څوک یې چی ماته په خوب کې راښوول سوی یې او دا ثابت بن قیس رضی الله عنه دی تا ته به ځواب درکړی دا یې وویل نبی کریم ﷺ ځنی ولاړی ابن عباس رضی الله عنه وایې ما له ابوهریرة رضی الله عنه پوښتنه وکړه چی څنګه خوب وو ابوهریرة رضی الله عنه وویل چی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ما په خوب کې ولیدل چی زما په لاسو کې دوه دزرو بنګړی کیښودل سو په دې زه ډیر وویریدم په خوب کې ماته وویل سو چی دا پوه که ما چی کله پوه کړل نو سمدستی هغه دواړه په هوا کې والوتل ددې خوب تعبیر دادی چی دوه دروغجن به ښکاره کیږی او دنبوت دعوه به کوی نو له هغو دوو څخه یو دغه دروغجن مسیلمة دی او دویم دورغجن اسود عنسی (۳)

(۱) فتح الباری جلد ۸ /ص /۶۷، زرقانی جلد ۴ /ص /۳)

(۲) کله چی خپلی سیمی ته ولاړی دنبوت دعوی یې وکړه او خلکو ته یې داسی دروغ وویل چی زه نبی کریم ﷺ په نبوت کې له ځان سره شریک کړم ، ابن هشام)

(۳) اسود عنسی سودالله وجهه چی کله دنبوت دعوی وکړه نبی کریم ﷺ فیروز دیلمی رضی الله عنه له څو سپرو سره دهغه دوژلو لپاره ولیږی دنبی کریم ﷺ دوفات په وخت کې دهغه دوژل کیدو خبرراورسیدی عبدالرحمن تمالی رضی الله عنه دهغه په اړه داسی وویل : زمادی په ژوند قسم وی او زما قسم هسی قسم نه دی عنس قبیله داسود عنسی په وژلو سره وویریدل نبی کریم ﷺ حکم وکی چی دهغه دوژلو لپاره ولاړسی او دغوره وعدی او ښه بخت زیری یې راکی نو موږ څو سپاره دهغه دوژلو لپاره روان سو کله چی موږ ورسیدو هغه موو وژی دنبی کریم ﷺ تر وفات یوه ورځ او یوه شپه مخکې هغه ووژل سو په همدغه وخت کې نبی کریم ﷺ ته دوحی په ذریعه خبر ورکړل سو چی اسود عنسی ووژل سو نبی کریم ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم په دې خبر کړل وروسته چی کله ... خپلو په ورځ یې خبر راوړی ، فتح

سیف لودین کتابتون

اسود عنسی دنبی کریم ﷺ دژوند دپای په شیبو کې ووژل سو او مسیلمة الکذاب دابوبکر صدیق رضی الله عنه دخلافت په وخت کې ووژل سو.

فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ. (فتح الباری باب وفد بنی حنیفه جلد ۸ /ص/ ۷۰ وزرقانی جلد ۴ /ص/ ۱۹)

دهجرت په لسم کال مسیلمة الکذاب نبی کریم ﷺ ته یو لیک ولیږی دهغه مضمون داسی

(من مسیلمة رسول الله الی محمد رسول الله ﷺ امابعد فانی اشرکت معک فی الأمر وان لنا نصف الارض ولقریش نصفها ولکن قریشا لاینصفون والسلام)

ژباړه: دالله درسول مسیلمة له لوری محمد رسول الله ﷺ ته زه ستاسره په کارکې شریک سوی یم نیمایې ځمکه زموږ لپاره ده او نیمائی دقریشو لپاره خو قریش انصاف نه کوی..

نبی کریم ﷺ دمسیلمة الکذاب دلیک ځواب داسی ولیکی:

بسم الله الرحمن الرحیم من محمد رسول الله ﷺ الی مسیلمة الکذاب امابعد فالسلام علی من اتبع الهدی فان الارض لله یورثها من یشآءُ من عباده والعاقبة للمتّقین)

ژباړه: پیل کوم په نامه دالله ﷻ چی ډیر مهربان او ښښونکی دی دالیک دمحمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوری دی و مسیلمة دروغجن ته سلام دی پر هغه چاوی چی دسمی لاری پیروی وکړی ټوله ځمکه ده الله ﷻ ده الله عزوجل چی وغواړی له خپلو بندګانو هغو ته یې ورکوی او ټولی ښیګڼی داخرت دهغو خلکو دی چی له الله ﷻ څخه ویریږی.. داپیښه دحجة الوداع له راستنیدو وروسته وه (۱)

شپږم: دطئ قبیلی پلاوی!

دطئ قبیلی پلاوی دنبی کریم ﷺ په درانه حضور کې وړاندی سو دوئ پنځلس تنه وو او ددوئ مشر زید الخیل وو، نبی کریم ﷺ اسلام ورته وړاندی کی ټولو په ډیره خوشالی اسلام ومنی او دزید الخیل نوم یې زید الخیر کیښودی او داسی یې ورته وفرمایل ماچې په عربو کې دچاصفت اوستاینه اوریدلی ده هغه سړی می تر هغه کم لیدلی دی پرته له تا (۲)

اووم: دکنده قبیلی پلاوی!

کنده، دیمن دیوی قبیلی نوم دی په کال لسم هجری کې داتیاسپرو کسانو یو پلاوی دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضر سو ددوئ مشر اشعث بن قیس وو (۱) کله چی دوئ نبی کریم ﷺ ته راغلو داسی جامی یې اغوستی وی چی هغه له وریښمو جوړی سوی وو نبی کریم ﷺ وفرمایل آیا تاسو مسلمانان نه یاست، دوئ وویل ولی نه بیشکه موږ مسلمانان یو نبی کریم ﷺ وفرمایل بیا نو ستاسو په غاړو کې داوریښم ځنګه دی، دوئ هم سمدستي هغه جامی لیری وغورزولی

---

(۱) عیون الاثر جلد ۲ /ص/ ۲۳۶)

(۲) اشعث بن قیس دنبی کریم ﷺ له وفات وروسته مرتد سو مګر دابوبکر صدیق رضی الله عنه په لاس یې بیرته توبه وکښله او دقادسیه ومدائن او جلولاء او نهاوند په جنګو کې ګډون وکی په کال ۴۵ یا ۴۲ کې په کوفه کې وفات سو، عیون الاثر جلد ۲ /ص/ ۲۴۲)

سیف لودین کتابتون

مسئله :، دخامک کار که لږ وی مثلاً دڅلورو ګوتو په اندازه وی نو دهغه کارول روا دی په خپله نبی کریم ﷺ او ابوبکر صدیق ؓ او عمر فاروق ؓ هغه اغوستی دی کیدای سی ددوئ دجامو خامک ډیر وو ځکه یې منع وکړه ..

اتم : داشعریین پلاوی په کال اووم هجری کې !

اشعریین دیمن ډیر ه عزتمنده اولویه قبیله وه چی خپل ورنیکه اشعر ته منسوب دی اشعر ته ولی اشعر وایې ځکه کله چی هغه پیدا سو نو دده پر بدن باندی ویښتان ډیر وو او اشعر د اسم تفضیل صیغه ده له شعر څخه جوړه ده شعر ویښتانو ته وایې اشعر معنی ډیر و ویښتانو در لودنکي ابو موسی اشعری ؓ هم له همدې قبیلې څخه دی دې پلاوی په ډیره مینه او محبت سره داشعر لوستی او له یمن را روان سو

غــــدا نلقی الا حبــــه ،.............. محمــــدا و حزبــــه

صبا به له دستانو سره یو ځای کیږی یعنی محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه له ملګرو سره له بل لوری نبی کریم ﷺ خپلو ملګرو ؓ ته وفرمایل چی یوه ډله خلک راوران دی چی ډیر د نرموزړو خاوندان دی کله چی داشعریینو پلاوی نبی کریم ﷺ ته راورسیدی نبی کریم ﷺ صحابه کرام ؓ ته وفرمایل دیمن او سیدونکی راغلو ددوئ زړونه ډیر نرم دی یعنی له سختی څخه بیخی پاک دی سمدستی حق منی کلک نه دی چی څه وعظ او نصیحت اثر نه پرکوی داوجه ده چی ایمان یمینی دی او دحکمت رواج هم یمینی دی یعنی ددوئ دزړه دنرمۍ داپایله او میوه ده چی ددوئ زړونه دایمان او حکمت کانونه او دعلم او پوهی سرچینه ده نبی امی فداه نفسی وابی وامی صلی الله علیه واله وسلم رښتیا ویلی دی ، دزړه نرمی دټولو ښیګڼو سرچینه ده او دزړه سختوالی دټولو بدیو مورده ، نعوذ بالله من القسوة آمین ،،

څنګه چی دیمن ډیرو خلکو پسونه ساتل ځکه یې وروسته وفرمایل آرام دارډ اطمینان او عاجزی د پسو په ساتونکو کیده او فخر او تکبر یعنی ځان لوی ګڼل او بل سپک ګڼل دا په اوښانو والاکیده دلمرختو خواته یې اشاره وکړه پلاوی غوښتنه وکړه چی یا رسول الله ﷺ موږ ددې لپاره راغلی یو چی په دین کې فقاهت او پوهه حاصله کړو او ددنیا دپیدا کیدو دپیل دوخت پوښتنه یې وکړه ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل تر ټولو مخکی الله ﷻ وو او له هغه پرته هیڅ هم نه وو او دالله ﷻ عرش په اوبو باندی وو یعنی ددنیا پیل له اوبو او عرش څخه سوی دی لومړی الله ﷻ اوبه پیدا کی او بیا عرش او بیا یې اسمان او ځمکی پیدا کړل او هرشئ یې په لوح محفوظ کې ولیکل .

(۱) ددې مسئلې تفصیل که مو غوښتې دبخاری ... البدایه والنهایه للحافظ ابن کثیر لومړی ټوک وګوری) (منه عفاعنه)

سیف لودین کتابتون

مهمه خبره : ابن عساکر وایي ، توحید او اصول دین او دعالم په پیدا کید وکې خبری کول او د مسائل کلامیه وو څیړنه او پلټنه او باریکیو پلټنه په اشعرییڼو کې نسل پرنسل راروان دی تردی چې امام ابوالحسن اشعری چې دابوموسی اشعری ﷺ له اولادو څخه دی دامسایل ښه روښانه بیان کړه او په علم کلام کې داهل السنت والجماعت امام ومنل سو (۱)

نهم دازد قبیلي پلاوی !

دازد قبیله پنځلس تنه پلاوی چې په دوئ کې صُرَدُ بن عبدالله ازدی هم وو دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو په اسلام مشرف سو رسول الله ﷺ صرد بن عبدالله پر دوئ مشروټکی او دشاوخواسیمو مشرکینو سره دجهاد امرورته وکي صرد دمسلمانانوله یوه ټولګي سره ملګری سو او دجرش سیمه یې محاصره کړه په همدې محاصره کې یوه میاشت تیره سوه خو ښار فتح نه سو صرد بن عبدالله ﷺ محاصره ماته کړه او بیرته ولاړی دجرش قبیلي خلکو بیرته تګ ماته وګڼله او په دوئ پسی له شاووتل کله چې شکرغره ته ورسیدل مسلمانان بیرته راوګرزیدل او پردوئ باندی یې برید وکي په دې جګړه کې جرش ماته وخوړه تردی جګړی مخکې دجرش قبیلي ونبی کریم ﷺ ته دوه تنه مدینی منوری ته لیږلی وو نبی کریم ﷺ ودوئ ته دشکرغره پیښه په هغه ورځ بیان کړه په کومه ورځ چې داپیښه سوی وه کله چې دوئ بیرته خپل قوم ته راغلو ټوله پیښه یې ورته بیان کړه دجرش قبیلي سمدستي یو پلاوی دنبی کریم ﷺ وخذمت ته ولیږی او په اسلام مشرف سو (۲)

لسم : دبنی الحارث قبیلي پلاوی دهجرت لسم کال !

بنی الحارث دنجران ډیره عزتمنده کورنۍ وه دهجرت په ۱۰ کال دلومړۍ خور یادریمی خورپه میاشت کې رسول الله ﷺ خالدبن ولید ﷺ دوئ ته ولیږی او حکم یې ورته وکي چې درې ورځی دوئ ته داسلام بلنه ورکړه تردرې ورځی وروسته که دوئ نه ومنی نو جګړه ورسره وکړه کله چې خالد ﷺ دوئ ته بلنه ورکړه دوئ سمدستي اسلام ومنی خالدبن ولید ﷺ وشاوخواسیموته هم داسلام بلونکي ولیږل خالدبن ولید ﷺ دفتح زیری ولیکی اونبی کریم ﷺ ته یې ولیږی نبی کریم ﷺ خالدبن ولید ﷺ ته ولیکل چې ددوئ یوپلاوی له ځان سره دلته راوله ، خالد ﷺ له ځان سره یوپلاوی راوستی کله چې دوئ دنبی کریم ﷺ په خذمت کی حاضرسو نو په دوئ کې قیس بن حصین اویزید بن محجل اوشداد بن عبدالله هم وو کله چې دوئ نبی کریم ﷺ ته راغله نبی کریم ﷺ وفرمایل (من هؤلاء القوم الّذین کانهم رجال الهند) دا څنګه خلک دی داسی معلومیږی لکه له هندوستان چې راغلی وی ..

(۱) فتح الباری جلد ۸ /ص /۷۵)
(۲) زرقانی جلد ۴ /ص /۳۲)

سیف لودین کتابتون

دوئ وویل موږ بنو الحارث او شاهدی ورکوو چی ته د الله رسول ﷺ یې او له الله ﷻ پرته بل هیڅوک د بندګۍ وړ او لائق نسته.

بنو الحارث ډیر دلاوره او غښتلی خلک وو ځکه به تل په جګړو او مقابلو کې برلاسی وو نبی کریم ﷺ پوښتنه وکړه چی څه وجه ده چی تاسو همیشه پر خلکو برلاسی یاست؟ دوئ وویل موږ تل په اتفاق او سیږو، په خپل مینځ کې اختلاف نه کوو او نه یو د بل سره کین او حسد کوو او نه پر چا ظلم کوو دسختۍ او تنګۍ په وخت کې صبر کوو نبی کریم ﷺ وفرمایل ربښتیا موویل، قیس بن حصین ﷺ یې پر دوئ مشروټاکي او د دوئ له تګه وروسته یې عمرو بن حزم ﷺ ته دین احکام وښودل او د زکاتو د راټولو لپاره یې دوئ ته ولیږی او د زکات په اړه یې یو لیک ورکی په هغه لیک کې د زکوة حکمونه وو په کوم چاچی یې ولیکی هغه ته یې ورکي،، دا پلاوی د کوچنی اختر په میاشت یا د میانی په میاشت کې خپل قوم ته بیرته ستون سو د دوئ له ستنید وروسته لا څلور میاشتی نه وی تیری سوی چی نبی کریم ﷺ له دې فانی دنیا سفر وکي، انا لله وانا الیه راجعون (۱)

یوولسم پلاوی دهَمدَان قبیلی وو!

همدان د یمن ډیره لویه قبیله وه رسول الله ﷺ لومړی خالد بن ولید ﷺ د اسلام د بلنی لپاره د دوئ ته ولیږی خالد ﷺ شپږ میاشتی هلته تیری کړی مګر دوئ اسلام ونه منی وروسته بیا نبی کریم ﷺ علی کرم الله وجهه ولیږی او یو لیک یې د همدان قبیلی لپاره ورکړ او د ته یې وفرمایل چی خالد ﷺ بیرته راولیږه علی ﷺ چی کله هلته ورسیدی نو د همدان ټول وګړی یې راغونډ کړه او د نبی کریم ﷺ لیک یې ورته ولوستی او د اسلام بلنه یې ورکړه دوئ ټولو په یوه ورځ اسلام ومنی او مسلمانان سو علی ﷺ د لیک له لاری و نبی کریم ﷺ ته خبر ولیږی نبی کریم ﷺ د شکر سجده وکړه او له ډیری خوشحالۍ یې دا سی وفرمایل (اسلام علی همدان) رواه البیهقی عن البراء بن عازب ﷺ باسناد صحیح)

دا د هجرت د اتم ۸ کال پیښه ده کله چی رسول الله ﷺ له طائف څخه راستون سو تر دې یو کال وروسته چی کله رسول الله ﷺ له تبوک راستون سو نو پر همدې مهال د همدان یو بل پلاوی مدینی منوری ته راغلی یمنی ګلداره پټوان یې اغوستی وو او د عدن لنګوټی یې تړلی وی او په مهاری غوره او ښانوباندی سپاره وو په همدې شان او شوکت سره د نبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضر سو او په ډیر فصاحت او بلاغت سره یې د نبی کریم ﷺ سره خبری وکړی او له نبی کریم ﷺ څخه چی یې کومه غوښتنه وکړه نبی کریم ﷺ هغه ومنله او یو لیک هغې غوښتنی په اړه ولیکی او مالک بن نمط چی د دې پلاوی غړی وو هغه یې پر دوئ مشروټاکی، دا د ابن هشام روایت دی او سندې ضعیف دی، حسن بن یعقوب همدانی ذکر کړی دی چی په دې پلاوی کې یوسل شل تنه وو، والله اعلم)

سیف لودین کتابتون

دولسم ۱۲ پلاوی د مزینه قبیلې وو دهجرت پنځم کال !

دهجرت په پنځم کال کې د مزینه قبیلې ځلورسوه تنه دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو او په اسلام مشرف سو د تګ په وخت کې یې له نبی کریم ﷺ څخه غوښتنه وکړه چې له موږ سره دلارې توښه نسته څه دلارې توښه موږ ته راکړه نبی کریم ﷺ عمرفاروق ؓ ته وفرمایل چې دوئ ته دلارې توښه ورکړه عمرفاروق ؓ عرض وکې چې یارسول الله ﷺ له ما سره لږ خورماوې شته هغه ددوئ نه بس کیږی نبی کریم ﷺ وفرمایل ولاړسه دوئ ته توښه ورکړه عمرفاروق ؓ دوئ له ځان سره خپل کورته بوتلل ټولو دخپلې اړتیا په اندازه خورماوې واخیستې او دعمرفاروق ؓ له خورماوو څخه یوه خورماهم کمه نه سوه (رواه احمد والطبرانی والبیهقی)

کثیربن عبدالله المزنی له خپل پلار څخه او هغه له خپل نیکه څخه روایت کوی چې ترټولو لومړی پلاوی چې دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسوی دی هغه دمزینه قبیلې پلاوی دی په دې پلاوی کې ځلورسوه تنه له مزینه قبیلې څخه راغلی وو حافظ عراقی په الفیة السیر کې فرمایې اَوَّلُ وَفْدٍ وَفَدُوْا الْمَدِيْنَةَ ....سَنَةَ خَمْسٍ وَفَدُوْا مُزَيْنَةَ

ترټولو لومړی پلاوی چې مدینې منورې ته راغلی دی هغه دمزینه قبیلې پلاوی دی چې په کال پنځم هجری کې راغلی دی

دیارلسم پلاوی ددوس قبیلې وو !

ددوس قبیلې پلاوی اویا یا اتیا تنه وو دخیبر له فتحې وروسته دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو تفصیلی قصه دطفیل بن عمرودوسی ؓ داسلام راوړلو په بیان کې تیره سوې ده او زرقانی ته رجوع وکړی جلد ۴ /ص / ۳۷)

څورلسم پلاوی دنجران دنصاراوُ وو !

نجران په یمن کې یولوی ښاری دی دمکې مکرمې څخه داوو ورځو لاره ده ددې سیمې درې اویا کلی دی ترټولو مخکې نجران بن زید بن یشجب بن یعرب بن قحطان دلته راغلی وو او میشت سوی دی ځکه دا ښارد ده په نامه ونومول سو اصحاب اخدود چې په سورة بروج کې یې یادونه سوی ده هغه دنجران په سیمه کې په یو کلی کې آباد وو (۱)

په کال نهم ۹ هجری (۲) کې دنجران دعسویانو یو پلاوی دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو په دې پلاوی کې شپیته تنه وو له دوئ څخه څورلس یې مخور او مشران وو دپلاوی مشر او دقافلې امیر عبدالمسیح عاقب (۳) وو او سید ایهم دده مشاوریا مرستیال وو او دقافلې برابرونکی وو او ددوئ مشر پادری عالم چې دته یې حبر او اسقف هم ویل هغه ابوحارثه بن علقمه وو ابوحارثه په ختهٔ عرب وو دبکر بن وائل له قبیلې څخه وو

---

(۱) شرح مواهب جلد ۴ /ص / ۴۱)

(۲) کماذکرابن سعد انهم وفدوا علی النبی صلی الله علیه وسلم فی سنة تسع وسماهم فتح الباری باب مناقب ابی عبیده بن الجراح ؓ جلد ۷ /ص / ۷۴) دنجران دنصاری وو دپلاوی پوره بیان حافظ ابن تیمیه په الجواب الصحیح جلد ۱ /ص /۵۵/ تر ۶۶ ذکرسوی دی علماء دې هغه کتاب ته رجوع وکړی)

(۳) عبدالمسیح یې نوم دی او عاقب یې لقب دی او ایهم نوم دی او سید یې لقب دی ، شرح مواهب جلد ۴ /ص / ۴۱)

سیف لودین کتابتون

خوعیسایې سوی وو دروم پاچهانودده دعلم اوفضل اودمذهبی سختی اوددین دټینګوالی له کبله دده ډیر عزت اودرناوی کاوه ډیری ځمکی یې ورکړې وی اودکلیسا مشرېې ټاکلی وو دنجران پلاوی په ډیره دبدبه مدینی منوری ته راغلی ، رسول اللهﷺ دوئ په مسجدنبوی کې میشت کړه دمازیګرلمونځ سوی وو څه وخت وروسته چی کله ددوئ دلمانځه وخت راغلی نودوئ غوښتل چی خپل لمونځ اداکی خوصحابه کرام ؓ منع کړل مګر نبی کریمﷺ وفرمایل تاسوهم لمنځونه وکوی دوئ دلمرختووخواته لمونځ وکړ ددوئ په میشت کیدوکې بیلابیلی خبری وسوی (فتح الباری قصه اهل نجران جلد ۸ /ص/ ۷۳ وشرح مواهب جلد ۴ /ص/ ۴۱)

ترټولو مخکې دعیسی ؑ دالوهیت اوزوی والی په اړه خبری پیل سوی

نصاری: دنجران نصاری وو ویل که عیسی ؑ دخدای زوی نه وی (العیاذبالله) نودده پلار څوک دی ؟

نبی کریمﷺ تاسو په دې ښه خبریاست چی زوی دپلار مشابه وی ؟

نصاری: ولی نه رښتیاهم داسی دی چی زوی دپلار مشابه وی ؟

نبی کریمﷺ: ښه نوخوپایله یې داروتله چی که عیسی ؑ دخدای زوی وی (العیاذبالله) نوخوله خپل پلار سره به مشابه وی اوسره له دی چی دادټولو منل سوی خبره ده چی الله تعالی بی مثل اوبی نظیره دی دهیچاسره مشابه نه دی لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ .. وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ)

نبی کریمﷺ: تاسوپه دی ښه خبریاست چی زموږرب ﷻ ژوندی دی نه مری هیڅ وخت هغه ته مرګ نه راځي اووعیسی ؑ ته مرګ اوفناراتلونکی ده ؟

نصاری: رښتیاهم داسی دی چی الله حی لایموت دی اوعیسی ؑ ته مرګ راځي .

پاملرنه : دنبی کریمﷺ دا خبره چی وعیسی ؑ ته مرګ راتلونکی دی له دی په ډاګه ښکاره کیږی چی عیسی ؑ اوس ژوندی دی مړی نه دی په راتلونکی کې ودته مرګ راتلونکی دی که داسی نه وی نودعیسویان دعقیدی برابرخودالزام په ډول بایدځواب ورکول سوی وای چی ستاسوپه عقیده خوعیسی ؑ وژل سوی دی اوپه دارځړول سوی دی نوځنګه الله سو آیاالله هم وژل کیږی اوپه دارځړول کیږی مګر دانبیاء علیهم السلام له ژبی مبارکی څخه یوه کلمه اویوټکی هم دحق خلاف نه وزی ځکه دلته دالزام په ډول ځواب ونه فرمایل چی تاسووایاست چی عیسی ؑ وژل سوی اوپه دارځړول سوی ایاخدای هم وژل کیږی اوپه دارځړول کیږی بلکې داسی یې ورته فریل چی وعیسی ؑ ته مرګ راتلونکی دی اوفناکیږی به یعنی تراوسه پوری هغه ژوندی دی اومرګ نه دی ورته راغلی

نبی کریمﷺ: تاسوپه دی ښه خبریاست چی زموږپالونکی دهرشئ پیداکونکی دی اودټول مخلوق ساتونکی اورزق ورکونکي دی آیاعیسی ؑ هم ددې شیانوڅخه دیوه شئ مالک دی ؟

سیف لودین کتابتون

نصارى : نه ديوه شئ هم نه دى مالک ،
نبى كريم ﷺ : تاسوپه دى ښه خبرياست چې الله دځمكى اواسمان اوپه هرشئ خبردى آيا عيسى عليه السلام ته ترهغه څه زيات علم وو كوم چې الله تعالى ورښودلى دى ؟
نصارى : نه ترهغه زيات په هيڅ شئ خبرنه وو
نبى كريم ﷺ : تاسوپه دى ښه خبرياست چې الله تعالى دعيسى عليه السلام مورمريم عليها السلام په رحم كې چې څنګه وغوښتل پيداكړي اوتاسوته داهم معلومه ده چې الله تعالى نه خوراک کوى نه څښاک کوى اونه هغه دبول اوبزار حاجت ورځى
نصارى : رښتياهم همداسى دى
نبى كريم ﷺ : ښه چې همداسى دى تاسوپه دې هم خبرياست چې مريم عليها السلام دنوروښځوپه شيرپه عيسى عليه السلام سره حامله سوى دى اومريم صديقه عليها السلام هم عيسى عليه السلام داسى زيږولى دى لكه څنګه چې يوښځه يوماشوم زيږوى اوبيادماشومانوپه شيريې هغه ته خوراک وركړى دى اوهغه خوراک هم کوى اوڅښاک يې هم کوى اوبول اوبزار يې هم كول ؟
نصارى : رښتياهم همداسى وو .
نبى كريم ﷺ : بيانوڅنګه هغه خداى سو دچاپيداكېدل اوجوړېدل چې دمور په رحم كې سوى وى اودزوكړى وروسته هغه خوراک ته محتاج وى اودبول اوبزار حاجت ورته راځى هغه څنګه خداى كېداى سى تاسومخكې هغه ټول شيان ومنل چې دخداى ﷻ سره لازم دى چې نه خوراک کوى اونه څښاک کوى اونه څه حاجت ورته راځى اوپه هرشئ خبردى اودټول مخلوق ساتونكى اوررزق رسونكى دى ژوندى دى مرګ نه ورته راځى اودچامشابه نه دى .
دنجران **نصارى** هک پک ودرېدل حق دوئ ته ښکاره سو دوئ ښه پوه سو خوداسلام له منلوڅخه يې سرغړونه وكړه الله عزوجل ددوئ په اړه داآياتونه نازل كړه :
﴿الم﴾ (١) ﴿اللهُ لا إِلَـٰهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ﴾ (٢) ﴿نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنزَلَ التَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ﴾ (٣) ﴿مِن قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ الْفُرْقَانَ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ بِآيَاتِ اللهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَاللهُ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ﴾ (٤) ﴿إِنَّ اللهَ لاَ يَخْفَىَ عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الأَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاءِ﴾ (٥) ﴿هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ فِي الأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ لاَ إِلَـٰهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ (٦) سورة آل عمران)
ژباړه : له الله ﷻ پرته هيڅوک دبندګې وړنسته هغه ژوندى دى اودټول مخلوق دژوند اووجودساتونكى اوپالونكي دى هغه پرتاباندى يوكتاب په حق نازل كي چې دټولومخكنيوكتابو تصديق كونكي دى اوترقرآن مخكې يې تورات اوانجيل دخلكودلارښودنى لپاره نازل كړى دى اوهغه معجزى هم نازلى كړى دى رښتياهم كوم خلک چې دالله ﷻ له آياتوڅخه سرغړونه وكړى دهغوئ لپاره سخت عذاب دى اوالله تعالى غالب ذات دى اوبدله اخيستونكى دى رښتياهم په الله تعالى باندى داسمان اوځمكى هيڅ شئ پټ نه دى هغه ذات دى چې دمورپه رحم كې تاسوته شكل اوصورت

سیف لودین کتابتون

درکوی له هغه پرته هیڅوک د بندګی وړ نسته هغه غالب او حاکم ذات دی..
داټول بحث او بیان په تفسیر درمنثور جلد ۲ /ص /۳ په حواله دابن جریر او ابن ابی حاتم کې یاد سوی ده)

رسول الله ﷺ دنجران نصاری وو ته اسلام وړاندی کې دوئ وویل موږخومخکې هم مسلمانان وو نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ستاسو اسلام څنګه صحی کیدای سی کله چی تاسو الله ﷻ ته زوی ثابتوی او دصلیب عبادت کوی او دخنزیر غوښه خوری ؟

نصاری :دوئ وویل آیا ته عیسی ﷺ دالله بنده بولی آیا تا دعیسی ﷺ په شیربل څوک لیدلی دی یا اوریدلی دی چی موږ ته یې مثال وړاندی کی په دی اړه دا آیتونه نازل سو :

﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ﴾ (۵۹) ﴿الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ الْمُمْتَرِينَ﴾ (۶۰) ﴿فَمَنْ حَاجَّكَ فِيهِ مِن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ﴾ (۶۱) سورة آل عمران) ژباړه : په تحقیق سره دعیسی ﷺ مثال دالله ﷻ په نزد داسی دی لکه دآدم ﷺ چی له خاوری پیدا سو بیا ورته وویل سو چی شه نو دا خبره دالله ﷻ له لوری حق ده له دې شک کونکو څخه مه کیږه بیا چی څوک ددې علم او حقیقت څخه بیا هم له تاسره دعیسی ﷺ په اړه مباحثه کوی نو دا ورته ووایه چی راځی چی خپل زامن او ستاسو زامن خپلی ښځی او ستاسو ښځې او خپل ځانونه او تاسو په خپله را وبولو او مباهله وکوو یعنی دالله ﷻ په عجز او زاری دا دعا وغواړوو او په دروغجنو باندی دالله لعنت وو ایو

مباهله !ددې آیاتو له نازلیدو وروسته نبی کریم ﷺ دمباهلی غوښتنه وکړه او په راتلونکي ورځ یې امام حسن ﷺ او امام حسین ﷺ او سیدة النساء فاطمة الزهراء ﷺ او علی ﷺ له ځان را وستل او دباندی راووتل دنجران نصاری وو چی کله دامبارک او نورانی مخونه ولیدل نو ویریدل او له نبی کریم ﷺ څخه یې دوخت غوښتنه وکړه چی موږ به مشوره سره وکړو بیا به تاته راسو دوئ په بیل ځای کې مشوره سره وکړه ، سید ایهم و عبد المسیح عاقب ته وویل قسم په الله ﷻ تاسو په دې ښه پوهیږی چی داسړی نبی او رسول ﷺ دی تاسو که له ده سره مباهله وکړه نو هرو مرو به تباه او برباد سی قسم په الله زه داسی مخونه وینم که دوئ ددې غره دښوریدو دعاء وکړی نو غر به له دی ځایه لیری سی قسم په الله تاسو دهغه پیغمبری او نبوت ښه وپیژندل دعیسی ﷺ په هکله چی ده څه وویل هغه بیخی حق خبره ده قسم په الله ﷻ هر وخت چی یو قوم له پیغمبر سره مباهله کړی ده هغه هلاک سوی دی نو تاسو خپل ځانونه په مباهله مه هلاکوی که تاسو غواړی چی پر خپل دین پاته سی نو سوله وکوی او بیرته ولاړ سی دوئ ټولو په یوه خوله دا پریکړه وکړه چی مباهله خو نه کوو خو سوله کوو په سوله کې پر دوئ جزیه کینښودل سوه

نبی کریم ﷺ وفرمایل : قسم په هغه ذات چی دهغه په لاس کې زما روح دی دنجران دخللکو پر سر و باندی عذاب راغلی وو که دې خلکو مباهله کړی وای نو دوئ به ټول بیا بیزو ګیان او یا خنزیران سوی وو او ټول میدان به له اوره ډک سوی وو او ددوئ پر سر و به تو بیدی او دنجران ټول خلک به برباد سوی وو تر دی چی پر ونو به یوه مرغی هم نه وه پاته سوی (۱)

(۱) شرح مواهب جلد ۴ /ص /۴۳)

سیف لودین کتابتون

په دریمه ورځ رسول الله ﷺ یو پریکړه لیک ولیکی دهغه لیک مضمون داسی وو

۱ـــ الومړی دنجران خلک به هر کال دوه زره جامی مسلمانانو ته ورکوی زر جامی به د رجب په میاشت کې ورکوی او زر جامی به د صفری په میاشت کې ورکوی او د هریوی جامې ارزښت به څلویښت درهم وی

۲ـــ دویم دنجران پر خلکو به د نبی کریم ﷺ د قاصدیو میاشت میلمستیا لازمه وی.

۳ـ دریم: په یمن کې که کومه فتنه او فساد راپورته سی نو دنجران خلک به مسلمانانو ته دیرش زغری او دیرش آسان اماناً ورکوی وروسته به بیرته ودوئ ته سپارل کیږی او که کوم شئ ورک یا ضائع سی دهغه بدله به ورکوی

۴ـــ څلورم: الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ددوئ دمال او ځان دساتنی ذمه واردی ددوئ مالونه او جایدادونه او ځمکی اوددئ حقوق اوددوئ مذهب اودین اوددوئ قسیس عالم او پادری اوددوئ په کورنی او په منونکو کې به هیڅ تغیر او بدلون نه راځی او دجاهلیت دوینی به له دوئ څخه غوښتنه نه کیږی اوددوئ ځمکوته به هیڅ لښکر نه داخلیږی..

(۵) پنځم څوک چی له دوئ څخه دحق غوښتنه کوی نو د ظالم او مظلوم ترمینځ به انصاف کیږی

(۶) شپږم: څوک چی سود خوری نو زما ذمه له هغه خلاصه ده..

(۷) که څوک تیری او ظلم کوی نو دهغه په بدله کې به بل څوک نه نیول کیږی

دادالله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ ذمه ده تر څو پوری چی دوئ په دې باندی ودریږی ترهغو به له دوئ سره هیڅ ژمنه نه ماتیږی ابو سفیان بن حرب ؓ او عیلان بن عمرو او مالک بن عوف او اقرع بن حابس او مغیره بن شعبه ؓ پردې لوظنامه باندی لاس لیک وکړي (۱)

دنجران عسویانو دالیک واخیستی او بیرته ولاړو دتګ په وخت کې یې له نبی کریم ﷺ دا غوښتنه وکړه چی یو امین سړی له موږ سره ولیږه ددې لپاره چی هغه له موږ څخه د سولی مال تاسو ته راوړی نبی کریم ﷺ وفرمایل زه به ډیر امین سړی له تاسو سره ولیږم دایې وفرمایل وروسته یې ابو عبیده بن الجراح ؓ ته له دوئ سره دتلو امروکې ابو عبیده بن الجراح ؓ د ټول امت امین دی (۲)

دنجران خلک ولاړو او دنبی کریم ﷺ لیک یې له ځان سره واخیستی کله چی نجران ته یو پړاو نږدی سو دهغه ځای عزتمند خلک ددوئ دهرکلی لپاره راووتل پلاوی دنبی کریم ﷺ مبارک لیک پادری ته وسپاری پادری دهغه په لوستلو بوخت وو په دی وخت کې ابو حارثه پر قچره سپور وو هغه وترهید له دده دا کاز وی کرز بن علقمه له ژبی ووتل (تعس الابعد) هغه لیری کمبخت دې هلاک سی یعنی نبی کریم ﷺ (العیاذ بالله) ابو حارثه په ډیره

(۱) زاد المعاد جلد ۳ /ص / ۴۰ او هدایة الحیاری فی رد الیهود والنصاری صفحه ۴۴ دا قصه ذکر سوی د محمد بن اسحق له روایت معلومیږی چی دا پیښه دنجران څخه د راتلو په وخت کې وسوه اصابه جلد ۲ /ص / ۲۹۲ ترجمه کرز بن علقمه نجرانی ؓ کې هم د محمد بن اسحق د روایت مطابق ذکر سوی دی

سیف لودین کتابتون

تندی سره ورته وویل ته کمبخت یې قسم په الله ﷻ هغه دالله ﷻ نبی علیه السلام دی دالله ﷻ
رالیږل سوی پیغمبردی او داهغه نبی علیه السلام دی چی په تورات او انجیل کې دده زیری ورکول
سوی دی ، کرزوویل چی ښه بیانوتاولی پرهغه ایمان نه راوړی چی هغه نبی علیه السلام دی ؟
ابوحارثه وویل : که موږ ایمان راوړو نودپاچهانو کوم مالونه او شتمنی چی له موږ سره دی
هغه راڅخه غواړی موږځکه پرهغه ایمان نه راوړی کرز وویل قسم په الله ﷻ زه خوخپله
اوښه بیرته مدینی ته گرزوم او هلته به ورځم اوپرده به ایمان راوړم سمدستی یې داوښی
مخ واړوی دمدینی منوری په لوری کله چی مدینی ته روانیدی ډیرپه مینه اوشوق سره
یې داشعار زمزمه کول او مدینی منوری طیبی ته روان سو شعرونه داسی وو :

الیک تعدو قلقا وضینها ...... مُعترِضًا فِی بطنها جنینها ...... مخالفا دین النصاری دینها

مدینی منوری ته راغلی اودنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو سمدستی په اسلام
مشرف سو اوپه مدینه منوره کې پاته سو وروسته په یوه غزاکې شهید سو انالله وانا الیه
راجعون یوڅو ورځی وروسته سید ایهم او عبدالمسیح عاقب هم مدینی منوری ته راغلو
اواسلام یې ومنی رضی الله عنهم ورضوا عنه ، نبی کریم ﷺ دوئ دواړه دابوایوب
انصاری رضی الله عنه په کورکې میشت کړل (۱)

یادونه ! په نجران کې دوې ډلی وی یوه دبنوالحارث وه اوبله دعسویانو وه دلومړی ډلی
خلکو اسلام ومنی لکه چی دبنی الحارث دپلاوی په بیان کې تیرسو اودویمی ډلی جزیه
ومنله اوسوله یې وکړه لکه چی اوس مودرته بیان کړه رسول الله ﷺ لومړی ډلی ته دزکات
دټولولو پاره اودویمی ډلی ته دجزیه دټولولو لپاره صحابه کرام رضی الله عنهم ولیږل ددې مطلب دانه
دی چی دیوی ډلی څخه جزیه اوزکات دواړه اخیستل کیږی چی داسوال پیداسی چی له
یوی ډلی زکوة اوجزیه دواړه څنګه اخیستل کیدای سی (۲)

پنځه لسم : دفروة بن عمرو جذامی استازی !

فروة بن عمرو جزامی دروم دپاچاله لوری دمعان اوشام دځمکی عامل اووالی وو رسول
الله ﷺ چی کله هغه ته داسلام بلنلیک ولیږی هغه اسلام ومنی اویوه استازی ته یې څه
لاربښوونی وکړی اونبی کریم ﷺ ته یې ولیږی رومیان چی کله دفروة په اسلام
راوړلو خبرسو نوپرنوموړی یې ددارځړولو حکم وکی کله چی هغه ودارته پورته کیدی
داشعریې ولوستی

بَلِّغْ سَرَاةَ الْمُسْلِمِیْنَ بِاَنَّنِی .... سَلَمٌ لِرَبِّیْ عَظْمِیْ وَ مَقَامِیْ

دمسلمانانوسردارته ﷺ داخبرورسوی چی زه مسلمان یم اوزماهډوکی اوځای
ددرید وټول دالله ﷻ منونکي دی

(۱) زادالمعاد جلد ۳ /ص /۴۴)
(۲) زادالمعاد جلد ۳ /ص /۴۴)

سیف لودین کتابتون

شپاړسم : ضمام بن ثعلبه رضی الله عنه داستازي په حیث !

دبنوسعدله لوری ضمام بن ثعلبه دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوبښ یې دمسجد له دروازی سره وتړی اوپه خپله مسجدته ننوتی اوپوښتنه یې وکړه چی محمد (ﷺ) کوم یو دی نبی کریم ﷺ په مجلس کې ناست وو اوتکیه لګولی وه صحابه کرام رضی الله عنهم ورته وویل دامبارک سړی دی چی تکیه لګولی ده ضمام وویل اې دعبدالمطلب زویه ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل ماواوریدل ،ضمام وویل زه له تاڅخه څوپوښتنی کوم اوزه ډیر په سختۍ سره پوښتنی کوم چی ته په زړه کې ناراضه نه سی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل ته چی څه پوښتنه کول غواړې وې کوه ، ضمام وویل زه تاته په الله ﷻ قسم درکوم اوپوښتنه درڅخه کوم چی آیاالله تعالی ته ربنتیاخلکوته له یوپیغام سره رالیږلی یې ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل هو زه دالله ﷻ پیغمبر ﷺ یم ضمام وویل اې الله ﷻ ته شاهدیې بیاضمام وویل چی ایاالله ﷻ په ورځ اوشپه کې دپنځولمنځواوپه کال کې دیوی میاشتی دروژی اوله مالدارانودزکوة اخیستواوپرفقیرانوباندې دویشلوحکم کړی دی ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل هو همداسی دی .ضمام وویل اې الله ته شاهدیې .ضمام وویل تاچی څه دالله ﷻ له لوری راوړی دی ماپه هغه ټولوایمان راوړی اوزه دخپل قوم استازی یم اوزمانوم ضمام بن ثعلبه دی رضی الله تعالی عنه ، داد صحیح بخاری روایت دی په صحیح مسلم کې راغلی دی چی ضمام وویل قسم په هغه الله ﷻ چی ته یې په حق رالیږلی یې په دې کې به زه هیڅ کمی اوزیاتوب نه کوم نبی کریم ﷺ وفرمایل که ده ربنتیاویلی وی نوخامخابه جنت ته داخلیږی

مسئله :له دی حدیث مبارک څخه دامعلومیږی چی دعالم اومخور سړی لپاره په مجلس کې تکیه لګول روادی (۱)

ضمام بن ثعلبه رضی الله عنه چی کله دنبی کریم ﷺ څخه رخصت سو اوخپل قوم ته ورسیدی نوټول خلک یې رایوځای کړه اووعظ یې ورته وکي ترټولولومړی خبره یې داوه ، لات اوعزی ډیر خوسی شیان دی .خلکووویل اې ضمام داخبری مه کوه هسی نه چی لیونی سی یاڅه آفت درباندی نازل سی ضمام رضی الله عنه وویل ډیر زیات افسوز قسم په الله ﷻ که لات اوعزی تاسوته هیڅ زیان یاګټه رسولای سی ،، اې خلکو الله ﷻ یورسول ﷺ رالیږلی دی اوپه هغه باندی یې یو کتاب نازل کړی دی چی هغه تاسوله دې خرافاتوڅخه وژغوری اوزه شاهدی ورکوم چی له الله ﷻ پرته هیڅوک دبندګی لایق نسته اومحمدصلی الله علیه وسلم دالله رسول ﷺ دی اوماله هغه ددین احکام زده کړی دی اوتاسوته زاغلی یم ددغی ورځی ماښام لانه وو راغلی چی دده د قبیلی ټول نارینه اوښځی ټول مسلمانان سو عمرفاروق رضی الله عنه اوعباس رضی الله عنه به ویل چی موږ دهیڅ یوه قوم پلاوی اواستازی ترضمام بن ثعلبه رضی الله عنه غوره نه دی لیدلی (۲)

(۱) فتح الباری جلد۱ /ص/۱۳۹)
(۲) شرح مواهب جلد ۴ /ص/۴۷)

سیف لودین کتابتون

اوولسم ۱۷ پلاوی دطارق بن عبدالله محاربی دبنی محاربو پلاوی !

طارق بن عبدالله وایې چې زه دذی المجاز په بازارکې وم یوسړی مې ولیدې چې مخامخ راروان دی اوداسې وایې (اَيُّهَاالنَّاسُ قُوْلُوْا لَااِلٰهَ اِلَّااللهُ تُفْلِحُوا) اې خلکو ووایاست چې بل معبودنسته پرته له یوه الله ﷻ کامیاب به سی

اوله شاورپسې یوبل سړی روان دی ویناکونکې په کاڼوولې اووایې (یاایهاالناس انه کذاب فلاتصدقوا) اې خلکو دادروغجن دی دده خبره مه منې (العیاذبالله)

ماپوښتنه وکړه چې داسړی څوک دی خلکوراته وویل دادبنی هاشم دکورنۍ دی اووایې چې زه دالله ﷻ رسول یم اوداله شاورپسې سړی دده آکا ابولهب دی

طارق بن عبدالله وایې کله چې خلک په اسلام کې داخل سو اونبی کریم ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکې موږ دمدینې دخورماوو دارانیولولپاره له زبده سیمې څخه ولاړو کله چې مدینې منورې ته نژدې ورسیدوپه یوباغ کې مودکښته کیدونیت وکې یوسړی ددوو پلوانوپټوا غوستی وو راغلی اوموږته یې سلام وکوی اوپوښتنه یې وکړه چې له کومه ځایه راغلی یاست ؟ موږوویل چې له زبده څخه ، ده راته وویل دکوم ځای نیت مودی ؟موږوویل دمدینې منورې. ده راته وویل دڅه لپاره؟ موږوویل دخورماوودارنیولولپاره له موږسره یوسوراوښ وو. ده پوښتنه وکړه چې آیادااوښ ددومره خورماپه بدل کې ورکوی ؟ موږوویل ولې نه. ده هم راسره ومنله اودقیمت دکښته کیدوپه اړه یې هیڅ هم ونه ویل اواوښ یې له ځان سره بوتلی ، موږپه خپل مینځ کې سره وویل چې دبدل اخیستوپرته مواوښ یونامعلوم سړی ته وسپاری او موږیې پیژنوهم نه په همدی وخت کې یوه پرده ناکې ښځې وویل مادهغه سړی څیره لیدلې ده قسم په الله ﷻ دهغه مخ دڅورلسم دسپوږمۍ یوه ټوټه وه دامخ دکوم دروغجن اوغدار نه وو تاسومه وارخطاکیږۍ زه ستاسوداوښ دقیمت ذمه واره یم ، موږداخبرې سره کولې یوبل څوک راغلی اووې ویل چې زه درسول الله ﷺ استازی یم هغه داخورماوې تاسوته رالیږلې دی داوخورۍ اواندازه یې کړې موږهغه خورماوې وخوړې ښه په ماړه سو ورروسته موبیااندازه کړې هغه یوه دانه هم کمه نه وه پوره سوې په بله ورځ موږمدینې منورې ته داخل سو نبی کریم ﷺ پرمنبرولاړوو خطبه یې لوسته غالبًا به دجمعې ورځ وه موږله ده څخه داخبرې واوریدې : (تصدقوا فان الیدالعلیا خیرمن الیدالسفلی امک وایاک واختک واخاک وادناک ادناک) خیراتونه کوی رښتیاهم لوړلاس ترلاندې لاس ډیر غوره دی دمور اوپلار اوخور اوورور اودنژدې خپلوانوډیر خیال ساتی (رواه البیقهی والحاکم وغیره (۱)

(۱) زادالمعاد ۳/ ۴۶)

سيف لودين كتابتون

اتلسم ۱۸) دتجيب قبيلي پلاوی

تجيب په يمن کې دکنده قبيلي يوښاخ دی دتجيب قبيلي ديارلس تنه دزکوة له مال سره دنبی کريم ﷺ په خذمت کې حاضرسو نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل چی دامال بيرته يوسی او دهغه ځای پربی وزله اومسکينانويې وويشي دوئ وويل موږهغه مال راوړی دی کوم چی دهغه ځای ترمسکينانوزيات سوی دی ، ابوبکرصديق ﷺ وويل يارسول الله ﷺ دتجيب په څيرپلاوی تراوسه نه دی راغلی ، نبی کريم ﷺ وفرمايل ربنتياهم هدايت اوسمه لاربنوونه دالله ﷻ په لاس کېده دچالپاره چی الله تعالی دخيراراده وکړی دهغه سينه دايمان لپاره خلاصه کړی دې خلکوله نبی کريم ﷺ څخه ډيری مسئلی زده کړی نبی کريم ﷺ ددوئ دپوښتنوځوابونه ورته وليکل اوبلال ﷺ ته يې ټينګاروکي چی ددوئ ښه ميلمستياوکړه دوئ له څو ورځوتيريدو وروسته دتګ اجازه وغوښتله نبی کريم ﷺ وفرمايل ستاسوڅه تلوار دی دوئ وويل يارسول الله ﷺ زموږزړه غواړی چی ستاپه ليدلواوملګرتياسره چی کوم برکات موږته حاصل سوی دی هغه ژر خپلوخلکوته ورسوو نبی کريم ﷺ دوئ ته ښی تحفی اوډالۍ اوښه عزت ورکي اورخصت يې کړل دتګ په وخت کې يې ځنی وپوښتل چی ستاسوڅوک پاته نه دی دوئ وويل يوځوان هلک پاته سوی دی هغه موږداوښانواونور سامان دساتنی لپاره پری ايښی دی نبی کريم ﷺ وفرمايل هغه راوغواړی کله چی هغه راغلی نوغوښتنه يې وکړه چی يارسول الله ﷺ تازمادقبيلي اړتياوې پوره کی اوزه هم يوه اړتيالرم ، نبی کريم ﷺ وفرمايل هغه څنګه اړتياده دې ځوان هلک وويل چی زه يوائې له دې کبله له کوره راوتلی يم چی ته زمالپاره له الله تعالی څخه دادعاء وغواړی چی الله ﷻ ماته بخښنه وکوی اوپرمابان‌دی رحم وکړی اوزمازړه موړ کي نبی کريم ﷺ دده لپاره داسی دعاء وکړه (اللهم اغفرله وارحمه واجعل غنائه فی قلبه) اې الله ﷻ ده ته بښنه وکوی اوپرده مهربانی وکوی اودده زړه موړ کي وروسته يې دهغه ځوان لپاره هم دتحفی اوډالۍ ورکولوحکم وکي ،، په کال لسم ۱۰ هجری کې چی ددې قبيلي خلک دحج لپاره مکی مکرمی ته راغلو په همدې وخت کې نبی کريم ﷺ په منا کی وو نبی کريم ﷺ له دوئ څخه دهغه ځوان هلک دحال پوښتنه وکړه دوئ ورته وويل يارسول الله ﷺ دهغه دپرهيزګاری اوتقوی يوه عجيبه شان دی موږ ترده پرهيزګاره اوصابرنه دی ليدلی څومره مال اوشتمنی چی دده ومخ ته ويشل کيږی خودئ هيڅ هغه خواته لانه ګوری دنبی کريم ﷺ تروفات وروسته چی کله ديمن خلک له اسلام پر اوښتوسو نوهمدې ځوان خلکوته وعظ وکي چی دده په نصحيت سره ټول خلک په اسلام پاته سو اوالله ﷻ لره دی حمدوی هيڅ يوسړی هم له دين اسلام ونه وتی ابوبکرصديق ﷺ به له يمن دراتلونکو خلکو څخه دهغه ځوان دحال پوښتنه کول کله چی له دې پښې خبرسو نوزيادبن وليد ﷺ ته يې يوليک وليږی چی ددې ځوان په ځانګړی ډول بايد خيال وساتل سی (۱)

(۱) زادالمعاد جلد ۳ /ص/ ۴۷

نولسم پلاوی دهذیم قبیلې وو !

دهذیم قبیلې پلاوی چې کله مسجد نبوی ته راورسیدی رسول الله ﷺ دجنازې په لمانځه بوخت وو دوئ جلاځای کښینستل اوپه لمانځه کې یې ګډون ونه کړ کله چې نبي کريم ﷺ له لمانځه خلاص سو دوئ یې راوغوښتل اوپوښتنه یې ځنې وکړه چې آیاتاسو مسلمانان نه یاست ؟ دوئ وویل موږ مسلمانان یو ، بیانبي کريم ﷺ وفرمایل چې تاسو مسلمانان یاست وولې مو دخپل ورور دجنازې په لمانځه کې ګډون ونه کړ ؟ دوئ وویل یارسول الله ﷺ موږداګمان وکړ چې ترڅوله تاسره په لاس بیعت ونه کړو ترهغه وخت پورې په جنازه اونورو عباداتوګډون جائزنه دی نبي کريم ﷺ وفرمایل تاسو مسلمانان یاست هرچیرې چې یاست وروسته دوئ له نبي کريم ﷺ سره په لاس بیعت وکړ اورخصت سو یوځوان چې ترټولودلږعمروو هغه یې دسامان دساتلولپاره پرې ایښی وو نبي کريم ﷺ هغه راوغوښتی هغه ځوان هم راغلی اوله نبي کريم ﷺ سره یې په لاس مبارک بیعت وکړ موږووړته وویل یارسول الله ﷺ داهلک په موږکې کوچنی اوزموږخادم دی نبي کريم ﷺ وفرمایل (اصغر القوم خادمهم بارک الله علیک) په خلکوکې کوچنی به دخپلو مشرانوخدمت کوي الله ﷻ دې پرتاباندې خپل برکتونه نازل کړي .. دنبي کريم ﷺ ددعاء په برکت سره هغه ترټولوغوره اوترټولودقرآن غټ عالم سو اونبي کريم ﷺ هغه هلک پردوئ امیروټاکي اودنبي کريم ﷺ په حکم سره بلال رضي الله عنه دوئ ته تحفې اوډالۍ هم ورکړې کله چې خپلې سیمې ته ورسیدل نوټولې قبیلې اسلام ومنی (۱)

شلم ۲۰ دبنوفزاره پلاوی وو !

دتبوک له غزاوروسته دبني فزاره تقریباً شورلس تنه دنبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضرسو نبي کريم ﷺ له دوئ څخه دخپلې سیمې اوکلیوپوښتنه وکړه دوئ وویل یارسول الله ﷺ دوچکالۍ له امله تباه اوبربادې دي نبي کريم ﷺ ددوئ لپاره درحمت دباران غوښتنه وکړه (۲)

۲۱ یویشتم دبنواسد پلاوی په کال نهم هجري کې

دبنواسد قبیلې لس تنه دنبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضرسو ه همدې وخت کې نبي کريم ﷺ په مسجد کې ناست وو لومړی یې نبي کريم ﷺ ته سلام وکوی وروسته له دوئ څخه یوه وویل یارسول الله ﷺ موږشاهدي ورکوو چې الله ﷻ یودی هیڅوک دهغه شریک نسته اوته دالله ﷻ بنده اورسول یې اوستاله رابللو پرته موږپه خپله ستاپه خدمت کې حاضرسوي یو په دې اړه داآیت نازل سو : ﴿يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا قُل لَّا تَمُنُّوا عَلَيَّ إِسْلَامَكُم بَلِ اللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَاكُمْ لِلْإِيمَانِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾ (١٧ آیت سورة الحجرات) ژباړه : داخلک پرتاباندې دخپل اسلام راوړلواحسان اچوي ته ورته ووایه چې پرماباندې دخپل اسلام احسان مه اچوی بلکې الله تعالی په تاسوباندې احسان لري چې تاسوته یې دایمان توفیق درکې که تاسورښتیني یاست وروسته دوئ له نبي کريم ﷺ څخه دجادوګرې اورمل پوښتنه وکړه ؟ نبي کريم ﷺ دوئ (۳) منع کړه

---

(۱) زادالمعاد جلد ۳ /ص / ۴۷، عیون الاثر جلد ۲ /ص / ۲۴۶)
(۲) زرقاني جلد ۴ /ص / ۵۲)

سیف لودین کتابتون

دوه ویشتم ۲۲ دبهرآء پلاوی وو !

دیمن دبهراء قبیلې دیارلس تنه دنبی کریمﷺ په خدمت کې حاضرسو دمقداد بن اسوﷺ په کورکې یې واړول مقدادﷺ ددوئ تررارسیدومخکې یوه غټه پیاله حیس (۱) جوړکې کله چې دوئ راغلو نوهغه پیاله یې ددوئ مخ ته کیښوده ټول ښه په ماړه سو اوڅه لاپاته هم سو مقدادﷺ دخپلې مینځې سده په لاس هغه پیاله نبی کریمﷺ ته ولیږله نبی کریمﷺ څه ځنې وخوړه اوپیاله یې بیرته وروليږله ترڅه وخت چې میلمانه دمقدادﷺ په کورکې وو دوئ به له دې پیالې په مړه خیټه خوراک کوی یوه ورځ میلمنو دتعجب په ډول وویل اې مقدادﷺ موږ خواوریدلی وو چې دمدینې دخلکو ډیر معمولي خوراک دی اوته موږته هرځ ورځ دومره خوندور اومزه دار خوراک تیاوری چې موږ په خپلو کورو کې هم نه دی خوړلی مقدادﷺ وویل داټول دنبی کریمﷺ دلاس مبارک برکت دی اودوئ یې له پیښې خبرکړل ددې خلکو ایمان اویقین نورهم زیات سو ځوورځې یې په مدینه کې تیرې کړې ددین مسائل اوحکمونه یې زده کړل وروسته بیا خپلو کوروته ولاړو دتګ په وخت کې نبی کریمﷺ دلارې توښه اوڅه تحفې هم ورکړې (۲)

درویشتم ۲۳ دعُذَرَه قبیلې پلاوی !

عذره دیمن یوه قبیله ده دهجرت نهم کال دصفری په میاشت کې دعذره قبیلې دولس تنه دنبی کریمﷺ په خدمت کې حاضرسو نبی کریمﷺ دوئ ته هرکلی اوښه راغلاست ووایو دوئ له نبی کریمﷺ څخه وپوښتل چې ته دکوم شئ بلنه ورکوی نبی کریمﷺ وفرمایل چې ددې چې اللهﷻ یو دی شریک نه لري دهغه عبادت اوبندګی کوی اوددې خبرې شاهدی ورکړی چې زه دالله رسولﷺ یم ټول مخلوق ته رالیږل سوی یم .. وروسته دې خلکو داسلام دفرائضو پوښتنه وکړه نبی کریمﷺ دوئ داسلام په فرائضو خبرکړل دوئ وویل موږ شاهدی ورکوو چې له اللهﷻ پرته دبندګی لائق نسته اوته رښتینی رسول یې تاموږته بلنه راکړه هغه موږ ومنله موږ په زړه اوبدن سره ستامرستندویان اوملګری یو اې دالله رسولﷺ موږ دتجارت لپاره شام ته ځو هغه ځای ته چې دهرقل پاچهی ده آیا پرتاباندی په هکله وحی نازله سوی ده . نبی کریمﷺ وفرمایل ژر ده چې شام به فتح سی اوهرقل به له هغه ځایه وتښتی دوئ یې له کاهنانو جادوګرانو څخه دپوښتنې کولو څخه اودهغوی دحلال سوی شی دخوړلو څخه منع کړل اودایې ورته وفرمایل چې پرتاسو باندې یوائې داخترقربانی ده څو ورځې په مدینه منوره کې میشت سو وروسته ولاړل کله چې تلو نبی کریمﷺ دوئ ته تحفې اوډالی هم ورکړې (۳)

---

(۱) حیس یو قسم دخوراک شئ دی چې دخورما او پنیرله یو ځای کولو څخه جوړیږي)
(۲) زادالمعاد جلد ۳ /ص/ ۴۸، ۴۹)

سیف لودین کتابتون

څلیرویشتم ۲۴ پلاوی دبلي قبیلي دهجرت نهم کال !

دهجرت په نهم کال دلومړی خورپه میاشت کې دبلی قبیلی پلاوی دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوپه اسلام مشرف سو نبی کریم ﷺ وفرمایل (الحمدلله الذی هدا کم للاسلام فکل من مات علی غیرالاسلام فهوفی النار) ثناوصفت هغه خدای لره دی چی تاسوته یې سمه لاروښوده هرڅوک پرته له اسلام پربل دین مړسی هغه په اورکې دی ..

دپلاوی مشر ابوالضبیب پوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ زه ډیری میلمستیاوی کوم آیاپه دې کې زما څه ثواب شته ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل هو ثواب دې شته که غنی وی اوکه فقیر په هریوه باندی چی ته احسان وکوی هغه خیرات دی وروسته ابوالضبیب وویل یارسول الله ﷺ دمیلمستیاوخت څومره دی ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل میلمستیادرې ورځی ده تردې وروسته خیرات دی دمیلمه لپاره دانه دی جائزچی کوربه تنګ کی ، کله چی درې ورځی تیری سوی دوئ ولاړل نبی کریم ﷺ دتګ په وخت کې دلارې توښه هم ورکړه (۱)

پنځه ویشتم دبني مره پلاوی دهجرت نهم کال !

په کال نهم ۹ هجری کې چی کله نبی کریم ﷺ له تبوک راستون سو ده ه قبیلی دیارلس تنه دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو حارث بن عوف دپلاوی مشروو دوئ وویل یارسول الله ﷺ موږستاد قوم یو دلوی بن غالب له اولادی څخه یو نبی کریم ﷺ مسکی شو اودسیمی دحال پوښتنه یې ځنی وکړه دوئ وویل یارسول الله ﷺ ډیر وچکالی ده خلک تباه اوبربادبدی نبی کریم ﷺ ددوئ لپاره دباران دعاء وکړه کله چی دوئ خپلو کوروته ولاړو هلته په هم هغه ورځ باران سوی وو په کومه ورځ چی رسول الله ﷺ دعاء کړی وه ټوله سیمه اوباغونه تروتازه وو دتګ په وخت کې یې هریوه ته لس ۱۰ لس اوقیه سره زر ورکړه اوحارث بن عوف ته یې دوولس اوقیه سره زر ورکړل (۲)

شپږویشتم ۲۶ دخولان قبیلي پلاوی په کال لسم هجری کې !

دهجرت لسم کال دبرات په میاشت کې دیمن دخولان قبیلی لس تنه دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چی یارسول الله ﷺ موږپه الله ﷻ اودهغه په رسول ﷺ ایمان لرو الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ په موږباندی لوی احسان کړی دی له لیری راغلی یو اوستادلیدو په مینه دلته حاضرسوی یو نبی کریم ﷺ وفرمایل ستاسو داسفرعبث نه دی په هرګام ستاسولپاره نیکی ده څوک چی زماد ملاقات لپاره مدینی ته راسی دقیامت په ورځ به هغه زماپه پناه اوآمان کې وی وروسته یې دخولان بت (چی دهغه نوم عمِ نس وو) په هکله پوښتنه وکړه چی هغه څه سو پلاوی وویل الحمدلله ستادلارښوونه اوتعلیمَ دهغه بت دعبادت کولوپه بدله کی سوه پرته له یوڅوسپین ږیرو اوزړوښځو هیڅوک هم دهغه عبادت نه کوی اوان شاء الله اوس به زموږله ستنیدو وروسته دهغه هیڅ نوم اونښان پاته نه سی ،، رسول الله ﷺ دوئ ته ددین فرائض وښودل اودانصیحت یې ورته وکی چی ژمنه پوره کوی ، امانت اداکوی ، دهمسایه ګانو خیال ساتی ، پرچاباندی تیری مه کوی ، اودرخصتیدو په وخت کې یې دوولس اوقیه سره زر ورکړه ترستنیدو وروسته ددوئ لومړی کار دهغه بت نړیدل اوماتیدل وو هغه بت یې دړوی وړی کې (۳)

---

(۱) عیون الاثر جلد ۲ /ص /۲۵۱،، ۲۵۲)
(۲) عیون الاثر جلد ۲ /ص /۲۵۲)
(۳) [illegible]

اووه ویشتم ۲۷ دمحارب پلاوی !

دمحارب قبیلي خلک ډیر تند خویه او سخت مزاجه وو کله چې نبي کریم ﷺ په مکه مکرمه کې دحج په وخت کې خلک اسلام ته رابلل نو دوئ ډیر په سختۍ نبي کریم ﷺ ته رامخکې کیدل ددې قبیلي لس تنه نارینه دخپل قوم وکیلان سو او په لس هجري کې حاضر سو او په اسلام مشرف سو په دوئ کې یوه سړي وویل یارسول الله ﷺ ستا په مقابله کې زما په ملګرو کې ترما ډیر سخت اوله اسلام لیری څوک نه وو زما ملګری مړه سو یوائحې زه ژوندی یم دالله ﷻ شکر دی چې هغه زه ژوندی پریښودم او د اسلام لارښوونه یې راته وکړه اوپرتا مې ایمان راوړی او ستا تصدیق می وکی نبي کریم ﷺ وفرمایل زړونه دالله ﷻ په واک کې دي ده غوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ ته زما لپاره له الله ﷻ دعاء او بخښنه وغواړه ما چې ستا په شان کې کومه بې ادبي کړي ده الله تعالی هغه ما ته معاف کړي نبي کریم ﷺ وفرمایل اسلام کفر او هر هغه څه چې دکفر په حالت کې سوي وي هغه ټول ختموي تردې وروسته دا پلاوی بیرته خپلې سیمې ته ستون سو (۱)

اته ویشتم ۲۸ دصدآء پلاوی په کال اتم هجري کې !

دهجرت په اتم کال دجعراني له راستنیدو وروسته رسول الله ﷺ مهاجر بن ابي امیه ؓ دصفالوری ته او زیاد بن لبید ؓ یې حضرموت ته او قیس بن سعد بن عباده خزاعي ؓ له څلور سوه تنو سره دقناة ته ولیږل او قیس بن سعد ته یې داحکم وکی چې دیمن په سیمه کې صُداء باندی هم خامخا تیر سه زیاد بن حارث صُدائی ته کله له دې خبر سو نو هغه نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او غوښتنه یې وکړه چې یارسول الله ﷺ ته لښکر بیرته راوغواړه زه دخپل قوم داسلام راوړلو ذمه اخلم نبي کریم ﷺ قیس بن سعد ؓ بیرته راوغوښتی زیاد بن حارث صدائی له پنځلس تنه ملګرو وو سره راغلی او د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو ټول اسلام ومنی او دنبي کریم ﷺ په لاس مبارک یې بیعت وکې نبي کریم ﷺ زیاد بن حارث ته وفرمایل ویل اې زیاد ستا قوم ستا خبره منی او ستا پیروی کوی زیاد ؓ وویل یارسول الله ﷺ دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ احسان دی الله تعالی دوئ ته داسلام لارښوونه وکړه دوئ بیعت وکې دا پلاوی بیرته ولاړی خپلې سیمې ته په هغه قبیله کې اسلام خپور سو سل تنه له هغې قبیلې په حجة الوداع کې ګډون وکړ (۲)

نه ویشتم ۲۹ پلاوی دغسان قبیلي دهجرت لسم کال !

دهجرت لسم کال دروژې مبارکې میاشت وه دغسان قبیلي درې تنه دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او په اسلام مشرف سو دوئ وویل موږ په دې نه پوهیږو چې زموږ قوم به زموږ خبره ومنی او که نه، رسول الله ﷺ دوئ ته د تګ په وخت کې دلاري توښه او ډالۍ ورکړې دغسان قبیلي اسلام ونه منی ځکه دوئ هم خپل اسلام له خلکو پټ کې دوه تنه له دوئ څخه په همدې پټ اسلام باندی وفات سو او دریم سړی دیرموک په جګړه کې له امین الامة ابوعبیدة ابن الجراح ؓ سره یو ځای سو او هغه ته یې دخپل اسلام او ده دوو ملګرو دمړینې خبر ورکی ابوعبیده ؓ دده ډیر درناوی او عزت وکی (۳)

سیف لودین کتابتون

ديرشم ۳۰ دسلامان پلاوی دهجرت لسم کال !

دهجرت په لسم ۱۰ کال دکوچنی اخترپه میاشت کې دسلامان قبیلی اوه تنه دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوپه اسلام مشرف سو دوئ دوچکالۍ ډیر شکایت وکي نبی کریم ﷺ سمدستی لاس پورته کړه اودباران دعاء یې وکړه وروسته یې دلاری توښه اوډالۍ ورکړی اونبی کریم ﷺ رخصت کړه کله چی دوئ کورو ته ورسیدل دوئ ته دامعلومه سوه چی په کومه ورځ اوکوم وخت کې چی نبی کریم ﷺ دعاء کړی وه په همدغه وخت کې ددوئ په سیمه کې باران سوی وو (۱)

یو دیرشم ۳۱ دبنی عبس پلاوی !

دبنی عبس درې تنه دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوغوښتنه یې وکړه چی یارسول الله ﷺ موږ داسی اوریدلی دی چی اسلام له هجرت پرته نه منل کیږی له موږسره څه مال اوڅاروی سته او په هغو زموږ روزمره ګذاره ده که اسلام له هجرت پرته نه قبلیږی نوبیا په دې مال کې څنګه خیر اوبرکت کیدای سی موږ به ټول خرڅ کړو اوهجرت به وکوو اوستا په خدمت کې به حاضرسو نبی کریم ﷺ وفرمایل (اتقوا الله حیث کنتم فلن یلتکم من اعمالکم شیئاً) له الله ﷻ څخه وبیریږی هرچیری چی تاسو اوسیږی الله تعالی به ستاسو په عملو کې کمی نه کوی ..

دوديرشم ۳۲ دغامدقبیلی پلاوی دهجرت لسم کال !

غامددیمن یوه لویه قبیله ده په کال لسم هجری کې دلس تنه یوپلاوی راغلی اوپه بقیع نامه ځاکی میشت سو اوسامان اواوښانوته یې یوهلک پریښودی اودنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو نبی کریم ﷺ وپوښتل چی سامان ته موڅوک پری ایښی دی پلاوی وویل یارسول الله ﷺ یووړوکی هلک موپریښودی نبی کریم ﷺ یوشئ وښودی چی هغه غلاسوی دی په دوئ کې یوه سړی وویل یارسول الله ﷺ هغه خوزماوو نبی کریم ﷺ وفرمایل مه وارخطا کیږه هغه پیدا سو کله چی دوئ دخپل توکیو او اوښانو خواته ورغلو په دی خبرسو چی هلک ویده سوی وو کله چی راویښ سو نو هغه نسته نو دهغه په لټون پسی ووتی له لیری یې یوسړی ولیدی چی ناست دی کله چی داهلک دهغه سړی وخواته ورغلی نوهغه سړی ولیدی سمدستی وتښتیدی دئ هلته ورغلی وې لیدل چی ځمکه کیندل سوی ده له هغه ځایه یې هغه راوکیښ کله چی هلک داپیښه ورته بیان کړه دوئ وویل رښتیا محمد ﷺ دالله ﷻ رښتینی رسول دی نبی کریم ﷺ ابی بن کعب ؓ ته امروکي چی دوئ ته قرآن وروښیه اودتګ په وخت کې یې دوئ ته د اسلام احکام په لیکلی ښه ورکړل اودوس برابریې ډالۍ اوتحفې ورکړی (۲)

---

(۱) زرقانی جلد ۴/ص/(۶۱)

سیف لودین کتابتون

درودیرشم ٣٣ دازد قبیلي پلاوی !

دازدی قبیلی اوه تنه دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو نبی کریم ﷺ ددوئ وضع اوهیئت اوددوئ آرام اووقار خوښ سو پوښتنه یې وکړه چی تاسو څوک یاست ؟ دپلاوی غړو وویل مووږ مومنان یو نبی کریم ﷺ مسکی سو اووې فرمایل دهری خبری یو حقیقت وی ستاسودایمان څه نښه ده پلاوی وویل هغه پنځلس خویونه دی چی له هغوڅخه پنځه هغه دی چی ستااستازی موږته په هغه باندی دایمان راوړلو حکم کړی دی پنځه بیاهغه دی چې ستااستازی موږته دعمل کولو حکم په کړی دی اوپنځه بیاهغه دی چی په هغوباندی موږد جاهلیت له وخت عمل کوونبی کریم ﷺ وفرمایل هغه خبری کومی دی چی زمااستازی تاسوته دایمان راوړلو حکم په کړی دی؟ پلاوی وویل هغه دا دی (١) په الله ﷻ باندی ایمان راوړی (٢) دالله ﷻ په ملائکه وو علیهم السلام باندی ایمان راوړی (٣) دالله ﷻ په نازل سویو کتابوباندی ایمان راوړی (۴) دالله ﷻ په ټولو پیغمبرانو باندی ایمان راوړی (۵) له مرګ وروسته په راژوندی کیدوباندی ایمان راوړل یعنی دقیامت پرورځ باندی ایمان راوړل ،، نبی کریم ﷺ وفرمایل هغه پنځه خویونه بیاکوم دی چی په هغه باندی زمااستازوتاسوته دعمل کولو حکم کړی دی ؟ دپلاوی غړووویل هغه دا دی (١) لااله الاالله وواياست (٢) لمونځونه کوی (٣) زکوة آداکوي (۴) درمضان دمبارکی میاشتی روژی نیسی (۵) دبیت الله شریف حج کوی که موتوان اووس وو ،،

نبی کریم ﷺ وفرمایل هغه پنځه بیاکوم خویونه دی چی تاسود جاهلیت له وخته په هغوعمل کوئ دپلاوی غړووویل هغه دادی (الشکر عندالبلاء والرضاء . والصدق فی مواطن اللقاء وترک الشماتة باالاعداء) فقال صلی الله علیه وسلم حکماء علماء کادوا من فقههم (١) ان یکونوا انبیاء ثم قال وانا ازیدکم خمسا فتتم لکم عشرون خصلة ان کنتم کماتقولون فلاتجمعوا ما لاتأکلون ولاتبنوا مالاتسکونون ولاتنافسوا فی شئ انتم عنه غدا نائلون واتقوالله الذی الیه ترجعون وعلیه تعرضون وارغبوا فیما علیه تعرضون وارغبوا فیماتقدمون وفیه تخلدون) دخوشالی اوفراخی په وخت کې شکر اودغم اوخفګان په وخت کې زغم اودتقدیرپه ترخه پریکړه باندی هم خوشاله اوسیدل اودجګړی په وخت کې ثابت قدمی اوددښمنانوپه غم نه خوشحالیدل نبی کریم ﷺ وفرمایل ډیر پوهان اوعلماء دی دفقه اوپوهی له کبله دنبوت مقام ته نژدی دی بیانبی کریم ﷺ وفرمایل زه تاسوته پنځه نورخویونه ښیم ددې لپاره چی شل پوره سی (١) کوم شئ چی تاسونه خوري هغه مه خوندی کوی (٢) په کوم ځای کې چی تاسونه اوسیږی هغه مه آبادوي (٣) کوم شئ چی صباته پریږدی په هغه شئ یوله بل سره کین اوحسد مه کوي (۴) له هغه څه وییریږی چی وهغه ته ستاسوورګرزیدل دی (۵) له هغه شئ سره مینه ساتی کوم چی تاسوهمیشه پکی اوسیږی یعنی له آخرت سره دوي دنبی کریم ﷺ وصیت له ځان یذه واخیستی اولاړل اودایې ښه یادکړه اوعمل یې په وکوی) (١)

---

(١) دنبی کریم ﷺ له دی لارښوونی داسی معلومیږی چی دحافظ حدیث رتبه دنبوت مرتبی ته دومره نژدی ده لکه څنګه دفقیه عالم مرتبه دنبوت مقام ته نژدی ده اودحافظ حدیث مثال دهغه عاشق دی چی هغه دخپل محبوب الفاظ په خپله یادکړی دی اودفقیه عالم مثال دهغه پوه سړی دی چی دخپل محبوب په اشارو اوکنایاتو اورازو اوحکمتو باندی پوهیږی)

(٢) زادالمعاد جلد ٣ /ص /٥۴)

سیف لودین کتابتون

څلورديرشم ۳۴ دبني المنتفق پلاوی !

دوئ دنبی کریم ﷺ په خذمت کې دسهار له لمانځه وروسته حاضرسو اتفاقاً په همدې ورځ نبی کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ راغونډ کړه اوډېره اوږده خطبه يې ورته ولوسته په دې خطبه کې دقيامت دراڅوندی کيدو اودجنت اودوزخ ټول حالات نبی کریم ﷺ بيان کړه کله چی له خطبی خلاص سو دوئ حاضرسو اوله نبی کریم ﷺ سره په لاس مبارک بيعت وکي اوبيرته ولاړل ټوله خطبه تقريباً دوې پاڼی کيږی چی حافظ ابن قيم په زادالمعاد کې ذکر کړی ده

پنځه ديرشم ۳۵ دنخع قبيلي پلاوی دهجر يوولسم کال !

دهجرت په يوولسم کال دمحرم په مياشت کې ديمن دنخع قبيلی ديوه پلاوی دوه سوه تنه دنبی کریم ﷺ په خذمت کې حاضرسو په دوئ کې زراره بن عمروهم وو دوئ په دی سفرکې ډير خوبونه هم ليدلی وو هغه خوبونه يې نبی کریم ﷺ ته بيان کړله اونبی کریم ﷺ دهغه تعبيرورته وکي يوه سړی داسی خوب ليدلی وو چی له ځمکی څخه اور راښکاره سو زه اوزمازوی ددې اور په مينځ کې واقع سو اوهغه اوردا آوازونه کول (لظی لظی بصير واعمی اطعمونی اکلکم اهلکم ومالکم) زه اوريم زه اوريم يوليدونکی اويوړوند ماته دخوراک لپاره راکي زه تاسوخورم تاسوخورم اوستاسو کورنی اومالونه خورم ..

نبی کریم ﷺ وفرمايل چی ددې خوب تعبيردادی چی په راتلونکي کې به يوه فتنه پيداسی اوپه دې فتنه کې به خلک خپل خليفه اوامام قتل کړی بدسړی ته به ځان ډيرښه ښکاره کيږی دمومن وژل به داوبو ترڅښلوهم زيات خوږوی که ستازوی مخکې مړسونوته به هغه فتنه نه ووينی. اوکه ته مخکې مړسوی نوستازوی به هغه فتنه ووينی زراره ﷺ وويل يارسول الله ﷺ ته له الله تعالی څخه دادعاء وغواړه چی زه هغه فتنه ونه وينم نبی کریم ﷺ دده لپاره دعاء وکړه زراره ﷺ خوترهغه فتنی له مخه وفات سو اوترده وروسته دعثمان غنی ﷺ دشهادت فتنه پيښه سوه دزراره ﷺ زوی له باغيانوسره وو اوپه دې فتنه کې شريک سو ، والله اعلم زادالمعاد جلد ۳ /ص /۵۹، زرقانی جلد ۴ /ص /۶۷)

په يمن کې داسلام ښوونه اوروزنه په کال لسم هجری کې !

په کال نهم يالسم هجری کې رسول الله ﷺ ابوموسی اشعری ﷺ اومعاذبن جبل ﷺ يمن ته وليږل سوددې لپاره چی خلکوته ددين اسلام ښوونه وکړی دوئ دواړه يې يوځای وليږل ابوموسی اشعری ﷺ ديمن دلمرختوخواته وليږی اومعاذبن جبل ﷺ يې دلمرلويدوخواته يعنی عدن اوجُند ته داسلام داحکامودښوونی لپاره وليږل

سيف لودين كتابتون

ونجران ته دخالدبن وليد رضى الله تعالى عنه سريه دهجرت لسم كال !

دهجرت لسم كال دلومړی خور يادريمي خور په مياشت کې رسول الله ﷺ خالدبن وليد ﷺ ديوه لښکرامير وټاکی دنجران اودهغه شاوخواسيمو ته يې وليږی اوخالد ﷺ ته يې داحکم وکړ چې ترجنګ مخکې درې ورځې دوئ ته داسلام بلنه ورکړه که دوئ دابلنه ومنله نوته هم ددوئ اسلام ومنه اوکه دوئ داسلام له منلو مخ وګرزوی نوبيا جګړه ورسره وکړه خالدبن وليد ﷺ چې کله نجران ته ورسيدی اودوئ ته يې داسلام بلنه ورکړه نوټول پرته له څه ويلوپه ډيره خوشالی اسلام ومنی خالدبن وليد ﷺ هلته پاته سو اودوئ ته يې داسلام داحکامو ښوونه کوله نبی کريم ﷺ ته يې يوليک وليږی اودبرياليتوب خبرې ورته وليکی ليک چې کله رسول الله ﷺ ته ورسيدی رسول الله ﷺ دده په ځواب کې داسی وليکل چې دنجران دبنی حارث بن کعب قبيلې پلاوی له ځان سره راوله اومدينې منورې ته راسه ، خالد ﷺ دنبی کريم ﷺ دامر برابر دبنی حارث يوپلاوی له ځان سره ملګرې کې اومدينې منورې ته راغلی نبی کريم ﷺ ددوئ ډير درناوي اوعزت وکې دمياني دمياشتی په سرکې دوئ بيرته ستنيدل نبی کريم ﷺ پردوئ باندې قيس بن حصين مشروټاکی اودپلاوی له تلووروسته يې عمروبن حزم ﷺ ور وليږی چې له دوئ څخه دزکوة مالونه واخلی اوداسلام احکام اوسنن اوفرائض وروښيي اويو فرمان يې وليکی دهغه مضمون داسی وو (بسم الله الرحمن الرحيم هذابيان من الله ورسوله ياايها الذين آمنوا اوفوا بالعقود عهدمن محمدالنبی رسول الله لعمروبن حزم حين بعثه الى اليمن امره بتقوى الله فى امره كله فان الله مع الذين اتقوا والذين هم مخبتون وامره ان يأخذ بالحق كما امره الله وان يبشر الناس بالخير ويأمرهم به ويعلم الناس القرآن ويفقهم فيه وينهى الناس فلايمس القرآن انسان الاوهوطاهر ويخبرالناس بالذى لهم والذى عليهم ويلين للناس فى الحق وليشتدعليهم فى الظلم فان الله كره الظلم ونهى عنه فقال الالعنة الله على الظالمين ويبشرالناس بالجنة وبعملها وينذر الناس النار وعملها ويستألف الناس حتى يفقهوا فى الدين ويعلم الناس معالم الحج وسننه وفريضة ومامرالله به والحج الاكبر والحج الاصغرهوالعمرة وينهى الناس ان يصلى احد فى ثوب صغير الاان يكون ثوباً يثنى طرفيه على عاتقيه وينهى الناس ان يحتبى احدفى ثوب واحديفضى بفرجه الى السماء وينهى ان يعقص احدشعررأسه فى قفاه وينهى اذاكان بين الناس هيج عن الدعاء الى القبائل والعشائر ويكن دعواهم الى الله عزوجل وحده لاشريك له فمن لم يدع الى الله ودعاالى القبائل والعشائر فيلقطفوا بالسيف حتى تكون دعواهم الى الله وحده لاشريك له ويأمرالناس باسباغ الوضوء وجوههم وايديهم الى المرافق وارجلهم الى الكعبين ويمسحون برؤسهم كماامرهم الله وامربالصلاة لوقتها واتمام الركوع والسجود والخشوع ويغلس بالصبح ويهجر بالهاجرة حين تميل الشمس وصلاة العصر والشمس فى الارض مدبرة والمغرب حين يقبل اللين لايوخر حتى تبدوا النجوم فى السماء والعشاء اول ثلث الليل وامر بالسعى الى الجمعة اذانودى لها والغسل عندالرواح اليها وامره ان يأخذمن المغانم خمس الله وكتب على المؤمنين فى الصدقة من العقار عشر ماسقت العين وسقت السماء وعلى ماسقى الغرب نصف العشروفى كل عشرمن الابل شاتان وفى كل عشرين اربع شياه وفى كل ثلاثين من البقر تبيع جذع اوجذعة وفى كل اربعين من الغنم سائمة وحدها شاة فانها فريضة الله التى افترض على المؤمنين فى الصدقة فمن زادخيرا

سیف لودین کتابتون

فهوخیرله وانه من اسلم من یهودی اونصرانی اسلاماخالصاً من نفسه ودان بدین الاسلام فانه من المؤمنین له مثل مالهم وعلیه مثل ماعلیهم ومن کان علی نصرانیة اویهودیة فانه لایردعنها وعلی کل حال ذکروانثی حراوعبددینار وافراوعوضه ثیابا فمن ادی ذلک فان له ذمة الله وذمة رسوله ومن منع ذلک فانه عدولله ولرسوله وللمؤمنین جمیعاً صلوات الله علی محمدوالسلام علیه ورحمة الله وبرکاته (۱)

پیل کوم په نامه دالله ﷻ چې ډیرمهربان اوبښونکی ذات دی ،دادالله اودهغه درسول ﷺ فرمان دی ای مؤمنانوخپلې ژمنې پوره کوی داپریکړه دمحمدرسول الله ﷺ ده دعمربن حزم په لاس کله چې یې هغه دعامل په ډول لیږی هغه ته یې داامروکې چې په ټولوکاروکې پرهیزګاری غوره کې رښتیاهم الله تعالی له ښواونیکوخلکوسره دی اونوموړی ته یې داحکم وکې چې حق ټینګ ونیسه لکه څنګه چې دالله ﷻ حکم دی اوخلکوته دخیرحکم کوه اودخیرزیری ورکوه اوخلقوته قرآن وربښیه اودهغه په معنی اومسائلویې پوه کې اوقرآن دی نه مسه کوی مګرپاک یعنی هیڅوک دی لاس نه وروړی پرته له پاکی. اوخلک دی په هغه اوامروخبرکی کوم چې پردوئ لازم دی اوله هغه یې منع کې کوم چې دوئ منع سوی دی اوله خلکوسره په حق کې نرمی کوی اله ظالمانوسره سختی کوی رښتیاهم الله تعالی ظلم اوتیری حرام کړی دی اوله ظلم څخه یې منع کړی ده لکه چې دالله تعالی ارشاددی الله ﷻ فرمایې ، لعنت دې وی دالله ﷻ په تیری کونکوباندی اوخلکوته دجنت زیری ورکړی اودجنت دعملوڅخه یې خبرکې اوله دوزخ څخه یې وویروی اوددوزخ له عملویې خبرکې اوله خلکوسره مینه محبت ساتی ددې لپاره چې خلک له تاسوڅخه دین زدکړی اوخلکوته دفرائضواوسنتواودحج اوعمری حکمونه ور زده کړی اودلمانځه په هکله خلکوته داسی ووایاست چې هیڅوک دی په کوچنی جامه چې په شاچولی لمونځ نه کوی مګرکه دونه فراخه وی چې دده دواړی اوږی دجامی په داړوطرفوسره پټې سی اوخلک دداسی جامی له اغوستلومنع کړی چې له لوړی خوادده فرج ښکاره کیږی اوخلک له دی منع کې چې یوسړی دسرویښتان په خپل څټ کې وتړی اوله دې یې منع کی چې کله په خپل مینځ کې لانجه اوشخړه راسی نودقبیلی اوکورنۍ اودقوم یاوطن په نامه باندی دمرستی لپاره څوک مه راغواړی بلکې یوائی الله ﷻ ته اودهغه حکم ته غاړه کیږدی اوڅوک چې الله ﷻ نه رابولی بلکې قوم کورنۍ قبیلی یاوطنوالوته بلنه کوی نودهغوئ سرونه په توره ووهي ترڅوچې دوئ دالله ﷻ وحده لاشریک له خواته راسی یعنی دقوم اوقبیلی اوکورنۍ اووطن آوازونه پریږدی اوخلکوته اودس په سمه طریقه سره اودسردمسح اودلمانځه پرخپل وخت اداکولوحکم وکوی اوپه لمانځه کې رکوع اوسجده په ښه آرام اداکوی اوپه خشوع اوخضوع سره لمونځ اداکوی اودسهارلمونځ په تیاره کې کوی اودماپښین لمونځ ترزوال وروسته کوی یعنی ترزوال مخکی دی نه کوی اودمازیګرلمونځ دی په هغه وخت کې کوی چې کله لمرپرځمکه باندی خپله ګرمی پریږدی اودلویدوخواته روان وی اودماښام لمونځ دشپی له پیل کیدوسره سم کوی

سیف لودین کتابتون

اودومره یې مه ځنډوی چې په اسمان کې ستوری وځلیږی او دماخستن لمونځ دشپې په لومړی دریمه برخه کې کوی او کله چې دجمعې آذان وسی نوپه منډه مسجدته ځان رسوی او دجمعې له تګه مخکې غسل کوی اوداحکم یې کړی دی چې دغنیمت له مال څخه به دالله ﷻ حق پنځمه برخه باسی او دمسلمانانو دځمکو په حاصلاتو به لسمه برخه اخلی کومه چې دچینې یاکاریز، یادباران په اوبو اوبه کیږی په هغوکې لسمه برخه زکوة واجب دی اوکومه ځمکه چې دکوهیانوپه ابو اوبه کیږی په هغوکې نصف العشریعنی دحاصلاتو شلمه برخه واجب دی اوپه لس اوښانوکې دوه پسونه واجب دی اوپه شلو اوښانوکې څلورپسونه واجب دی اوپه دیرش غوایانوکې یوه غوا اوپه څلویښت پسو کې یوپسه زکوة واجب دی دادالله ﷻ فرض دی چې الله تعالی پرمومنانو باندی فرض کړی دی اوڅوک چې تردی زیادت ورکوی نودهغه لپاره ډیر غوره دی خوکموی دی نه اوکوم یهودی یانصرانی چې په رښتیاسره اسلام ومنی نوهغه مومن دی اودهغه حقوق داسی دی لکه دنورومسلمانانو اوڅوک چې پرخپل یهودیت یانصرانیت باندی پاته سی اوداسلامی حکومت رعیت جوړسی اوداسلام په ځمکه کې اوسیدل خوښ کي هغه یهودی یانصرانی که ښځه وی اوکه نارینه مرئی وی اوکه آزادی په هربالغ باندی به یو دینارجزیه ورکول لازم وی یادهغه په بدل کې جامی ورکول لازم دی نوکوم سړی چې جزیه آداکړی هغه به دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ په امن کی اوسیږی یعنی دهغه ځان ،مال اوعزت ټول به خوندی وی اوڅوک چې له جزیه ورکولوڅخه انکاروکوی هغه دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ اودټولو مومنانو دښمن دی ،، دالله رحمتونه اوسلامتیاوی اوبرکتونه دی په محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم باندی وی (سیرة ابن هشام ج /۴ /ص /۲۴۱)

دیمن په لوری دعلی کرم الله وجهه سریه دهجرت لسم کال !

رسول الله ﷺ دحجة الوداع څخه مخکې دروژی په میاشت په کال لسم هجری کې علی ؓ په دري سوه صحابه کرام ؓ باندی امیروټاکی اویمن ته یې ولیږی اوپه خپل لاس مبارک یې علی ؓ ته په سرلنګوټه وتړله چې دهغې دوې شملی وی یوه شمله یې دیوه لاس په اندازه دمخ وخواته پریښوده اوبله یې دلویشتی په اندازه شاته پریښوده اوداسی یې ورته وفرمایل سیده ولاړسه بلی خواته توجه مه کوه کله چې یمن ته ورسیدی نوته په جګړه پیل مه کوه قسم په الله ﷻ ستاپه لاس که یوسړی سمی لاری ته راسی نوداددنیااوڅه چې په دنیاکې دی تردی غوره دی علی ؓ له دري سوه ملګروسره روان سو کله چې قناة ته ورسیدی پړاویې واچوی اوله هغه ځایه بیلابیل ټولکی بیلابیلوځایوته ولیږل داسلامی لښکر سپاهیان ترټولو مخکې دمحج سیمی ته داخل سو ډیر ماشومان اوښځي اواوښان اوپسونه یې په غنیمت ونیول اورایې وړل داټول غنیمتونه یوځای سو وروسته له یوه ډلی سره جګړه وسوه علی ؓ دوئ ته داسلام بلنه ورکړه مګردوئ ونه منله اوپرمسلمانانو یې غشی اودبری وویشتل وروسته بیاعلی ؓ دبریدامروکي اوپه دی جګړه کې شل تنه

سیف لودین کتابتون

ووژل سودوئ وتښتیدل شاوخواسیموته ولاړل علی ؓ له څه وخت دریدو وروسته بیاپه دوئ پسی ورغلی اودویم ځل یې بیاداسلام بلنه ورکړه دوئ داسلام بلنه ومنله اودخپل قوم له لوری یې هم ژمنه وکړه چې موږبه زکوتونه چې دالله ﷻ حق دی آداکوو وروسته علی ؓ دغنیمت مال راغونډکي اوپنځمه برخه یې بیله کړه اوپاته څلوربرخی یې پر مجاهدینو وویشلی اودځان پرځای یې یوبل څوک دلښکر مشروټاکي اوډیرپه تیزي سره دترخپلوملګرومخکې مکی مکرمی ته روان سو ځکه علی ؓ ته داخبررسیدلی وو چی رسول الله ﷺ له مدینی منورې څخه دحج لپاره مکی مکرمی ته روان سوی دی ځکه علی ؓ له یمن څخه سیده مکی مکرمی ته ستون سو اوله رسول الله ﷺ سره په حجة الوداع کې شریک سو (۱)

حجة الوداع (له خپل امت څخه درخصتیدوآخری حج)

دالله تعالی مرسته اوکومک له مسلمانانوسره وسوه مکه فتح سوه خلک ډلی ډلی په اسلام کې داخل سو دکفراوشرک اوبت پرستی اوډیموکراسی ریښي له بیخه وختی دقبائلوپلاوی ډلی ډلی راغلو له کفراوشرک څخه یې توبه وکښه اودالله ﷻ دیووالی اودحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم درسالت اقراریې په رښتینی زړه وکي دنبوت فرائض پرځای سو داسلام حکمونه قولاً اوعملاً خلکوته وښودل سو په کال نهم ۹ هجری کې دابوبکرصدیق ؓ په مشری کعبه شریفه له ناپاکوبتانوپاکه سوه اودجاهلیت دودونه اورواجونه پای ته ورسیدل اوس ددې وخت راغلی چی نبی کریم ﷺ دحج فریضه په خپله سرته ورسوی ددې لپاره چی امت ته دتل لپاره دامعلومه سی چی حج څنګه اداکیږی اودابراهیم ؑ اواسماعیل ؑ حج په کومه طریقه وو دحج احکام ټول له سره بیاترپایه پوری ټول دالله ﷻ دیووالی اودشرک له خبرو اودجاهلیت له دودو اورواجو څخه بیخی پاک اوصفاوو ځکه رسول الله دتلبیه (لاشریک لک) لفظ په ځانګړی ډول باندی وایو ددې لپاره چی دشرک هیڅ وهم هم پاته نه سی رسول الله ﷺ داسی تلبیه لوستله

(لَبَّیْکَ اَللّٰهُمَّ لَبَّیْکَ لَاشَرِیْکَ لَکَ لَبَّیْکَ اِنَّ الْحَمْدَوَالنِّعْمَةَ لَکَ لَاشَرِیْکَ لَکَ)

ترهجرت مخکې هم نبی کریم ﷺ ډیر حجونه کړی دی په جامع ترمذی کې له جابربن عبدالله ؓ څخه روایت سوی دی چی نبی کریم ﷺ ترهجرت مخکې دوه حجه کړی دی ابن اثیرپه نهایه کې وایې چی ترهجرت مخکې به نبی کریم ﷺ هرکال حج کوی ابن جوزی وایې چی دایقینی معلومه نه ده چی نبی کریم ﷺ څوحجه کړی دی خوداخبره دټولوپه نزد منل سوی ده چی ترهجرت وروسته یې یوحج کړی دی

دهجرت په نهم ۹ کال دحج فرضیت نازل سو په نهم کال نبی کریم ﷺ ابوبکرصدیق ؓ دحج امیروټاکی اومکی مکرمی ته یې ولیږی په هغه کال مسلمانانو دابوبکرصدیق ؓ

(۱) زرقانی جلد ۳ /ص/ ۱۰۳)

سیف لودین کتابتون

ترمشری لاندی حج آداکی دمیانی په میاشت کې په کال لسم ۱۰ هجری نبی کریم ﷺ په خپل دحج نیت وکی اوپه شاوخواسیمو کې دا اعلان وسو چې سږ کال نبی کریم ﷺ په خپل دحج لپاره روان دی دهجرت لسم کال وو دمیانی دمیاشتی ۲۵ دشنبی ورځ وه دماپښین اومازیګرپه مینځ کې رسول الله ﷺ له مدینی منوری څخه روان سو دمهاجرینو اوانصارو اونور بی شمیره صحابه کرام رضی الله عنهم ورسره ملګری وودنبوت دشمع شاوخوانیوی زره یایوسل څورلس زره یاتردې هم زیات پتنګان ړاټول وو دلوی اختردمیاشتی په دویمه دیک شنبی په ورځ نبی کریم ﷺ مکی مکرمی ته داخل سو (شرح مواهب جلد ۳ /ص/ ۱۰۵)

امهات المؤمنین رضی الله تعالی عنهن نه ۹بیبیانی اوحضرت سیدة النساءفاطمة الزهراء ؓ دنبی کریم ﷺ سره وی نورخاص ملګری اوخادمان هم ورسره وو حضرت علی کرم الله وجهه خونبی کریم ﷺ دروژی په میاشت کې دزکاتوراټولولپاره یمن ته لیږلی وو هغه هم په مکه مکرمه کې له نبی کریم ﷺ سره یوځای سو وروسته نبی کریم ﷺ دحج احکام اورکنونه اودعرفات په میدان کې یوه اوږده خطبه ولوسته لومړی یې دالله ﷻ حمداوثناء وویل بیایې وفرمایل : اې خلکوزه چې څه وایم هغه واوري کیدای سی په راتلونکي کال کې به له تاسوسره یوځای نه سم اې خلکوستاسوځانونه اوعزتونه اومالونه په خپل مینځ کې په یوبل باندی حرام دی لکه څنګه چې داورځ اودامیاشت اودابنار حرام دی دجاهلیت دوخت ټول کارونه زماترپښولاندی دی اودجاهلیت ټولی وینی ببښل سوی دی ترټولومخکې زه دربیعه بن حارث بن عبدالمطلب وینه چې پرهذیل باندی ده زه معاف کوم اودجاهلیت سود ساقط اولغوه دی ستاسولپاره یواځي خپل مال دی سودبه نه اخلی ترټولولومړی زه دعباس بن عبدالمطلب ؓ سود ساقط اوباطل کوم وروسته یې دښځي اوخاوند په مینځ کې حقوق بیان کړه بیایې وفرمایل په تاسوکې داسی مضبوط شئ پریږدم که تاسوهغه ټینګ ونیسی نوهیڅ کله به ګمراه اوبی لاری نه سی هغه کتاب الله اوسنت رسول الله دی دقیامت په ورځ به له تاسو څخه زماپه هکله پوښتنه کیږی وواياست تاسوبه څه ځواب ورکوی ؟ صحابه کرام ؓ وویل موږ شاهدی ورکوو چې تاموږته دالله ﷻ پیغام راورسوی اودالله ﷻ امانت دی آداکي اودامت دخیرغوښتنه دې وکړه ، رسول الله ﷺ درې ځله دشهادت په ګوته داسمان وخواته اشاره وکړه داسی یې وفرمایل:

(اللهم اشهد) اې الله ﷻ ته شاهد سه

نبی کریم ﷺ له خطبی خلاص سو اوبلال ؓ دماپښین آذان وکي دماپښین اومازیګردواړه لمنځونه په یوه وخت کې آداسووروسته نبی کریم ﷺ دالله ﷻ په ستایلو اوشکر کښلو اودبښنی په دعاء ګانو بوخت سو په همدې وخت کې داآیت نازل سو

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا (۳) آیت سورة المائدة

ژباړه : نن ورځ ماستاسولپاره ستاسودین پوره کي اوخپل نعمت مې پرتاسوپوره کي اودتل لپاره مې ستاسولپاره دین اسلام غوره کي ..

سیف لودین کتابتون

دلوي اخترپه لسمه منی ته ورسیدل رسول الله ﷺ درې شپیته اوښان دخپل عمرشریف په اندازه په خپل لاس مبارک باندې حلال کړه اواووه دېرش ۳۷ اوښان علي ؓ دنبي کریم ﷺ له طرفه قرباني کړه رسول الله ﷺ په منی کې تقریباً هغه رنګه خطبه ولوسته کومه چې دعرفات په میدان ویلی وه په پای کې طواف الوداع وکي اوحج پوره سو دلوی اختردمیاشتی په پای کې یې دمدینی منوری نیت وکي اوپه منی کې یې دسرمبارک له خریلووروسته ویښتنان په صحابه کرام ؓ وویشل ددې لپاره چې صحابه کرام ؓ هغه ویښتان دتبرک لپاره له ځان سره وساتي نبي کریم ﷺ دبل حج تروختنه نه سو پاتې د منی اوعرفات په خطبو کې هم ودې ته اشاره وکړه وې فرمایل کیدای سی زه به ستاسو سره په راتلونکي کال کې یو ځای نه سم ځکه ودې حج ته حجة الوداع وایې یعنی نبي کریم ﷺ له خپل امت درخصت اخیستوحج اودې حج ته حجة الاسلام هم وایې ځکه دحج له فرض کیدو وروسته په اسلام کې دالومړنی حج وو دحجة الوداع پیښې که په تفصیل سره بیان سی نوله دی څخه به یوغټ ټوک کتاب جوړسی ځکه مودلته په ډیرکوتاه اومختصرډول راوړل علماء دی زادالمعاداوشرح مواهب وګوری ..شرح مواهب جلد ۷ /ص /۱۳)

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په غدیرخم کې هم خطبه ولوسته !

کله چې رسول الله ﷺ له حج دستنیدوپه لاره کې وو بریدة أسلمي ؓ دعلي ؓ څخه شکایت وکی نبي کریم ﷺ دغدیرخم په نامه ځای کې چې دمکې اومدینې په مینځ کې دی یوه خطبه ولوسته په هغه خطبه کې یې داسې وفرمایل : اې خلکوزه یوبشریم کیدای سی په نژدې راتلونکي کې زمارب ﷻ ماته یواستازی زمادبللولپاره راولیږی اوزه دهغه بلنه ومنم ودې ته اشاره وه چې زمادوفات وخت نژدی دی وروسته یې داهل بیت دمحبت ټینګاروکي اودعلي ؓ داخلاقویادونه یې وکړه اوداسې یې وفرمایل (من کنت مولاه فعلي مولاه) دهرچاچې زه دوست یم علي ؓ به هم دده دوست وی ، دخطبې څخه وروسته عمرفاروق ؓ علي ؓ ته مبارکي ورکړه اودبریدة اسلمي ؓ له زړه څخه هم خفګان لیری سوپه دې خطبه کې دنبي کریم ﷺ هدف داوو چې علي ؓ دالله ﷻ محبوب اونژدې بنده دی له ده سره اوزماله اهل بیت سره مینه ساتل دایمان غوښتنه ده اوله علي ؓ اوزماله اهل بیت سره بغض یانفرت یالږڅه خړوالی دزړه دایمان دغوښتنې خلاف دی دحدیث مقصدیواځې دعلي ؓ دمینې وجوب اودهغه فرضیت بیانول وو دامامت اوخلافت له دی سره هیڅ تړاو نسته اوهرعاقل په دې پوهیږي چې په محبت اوخلافت کې دځمکې اواسمان فرق دی دمحبت اوخلافت ترمینځ تلازم نسته چې که له چاسره محبت وی نوهغه به سمدستي په ده پسې خلیفه هم وی محبت خوله مور اوپلار اواولاد اوښځوسره اوټولودوستانوسره وی آیاداټول به خلیفګان وی عباس ؓ اوفاطمة الزهراء ؓ اوامام حسن ؓ اوامام حسین ؓ ټول دنبي کریم ﷺ دسترګویخوالی اوزړونه اودزړه سرونه وو که محبت دخلافت دلیل سی نوامام حسن ؓ بایدلومړی خلیفه سی بلکې که دخپلوی

سیف لودین کتابتون

نوپه دې لحاظ سره بايد ترټولو مخکې فاطمة الزهراء رضی الله عنها اوبيا امام حسن رضی الله عنه اوبيا امام حسين رضی الله عنه اوبيا په څلورمه درجه کې علی کرم الله وجهه خليفه سی نو بايد دشيعه ګانو په نزدهم علی رضی الله عنه څلورم خليفه سی که اهل السنت والجماعت هغه څلورم خليفه کی نوبيا دوئ ولی شکايت کوی اوبل دا چی کله چی نبی کريم ﷺ په غديرخم کې خطبه ولوسته په دغه وخت کې صحابه کرام رضی الله عنهم او اهل بيت ټول موجود وو هيڅ هم له دې څخه دامطلب نه دی اخيستی چی ترنبی کريم ﷺ وروسته به خليفه علی رضی الله عنه وې اوبيا دوې مياشتی وروسته نبی کريم ﷺ وفات سو او په سقيفه دبنی ساعده کې دخلافت دمسئلی بحث راغلی او په دې بحث کې هغه ټول صحابه کرام رضی الله عنهم شريک وو کوم چی دغديرخم په خطبه کې حاضر وو هيڅ هم داحديث دعلی رضی الله عنه دخلافت لپاره نه دی وړاندی کړی اونه علی رضی الله عنه اونه عباس رضی الله عنه اونه دبنی هاشم هيڅ يو سړی په هيڅ وخت کې هم دعلی رضی الله عنه دخلافت دمستحق کيدو دپاره داحديث وړاندی کړی دی لنډه دا چی دغديرخم په خطبه کې رسول الله ﷺ دعلی رضی الله عنه او هل بيت دمحبت حکم کړی دی اودهغوئ له دښمنی څخه يې منع کړی ده نوالحمدلله ټول اهل السنت اولجماعة په زړه اوبدن سره داهل بيت محبت اودرناوی اوتعظيم خپل دين اوايمان ګڼی محبت خود اهل بيت له هرتن سره لازم دی نوآيا ددی دامطلب دی چی نبی کريم ﷺ ټول نژدی خپلوان خليفه ګان وګرزول ، نه هيڅکله داسی نه دی بلکې يوا ځی دمينی اومحبت ساتلو امريې کړی دی ..

دحجة الوداع له اداکيدو وروسته رسول الله ﷺ دلوی اختر دمياشتی په پای کې مدينی منوری ته راورسيدی څورورځی تيری سوی چی دهجرت لسم کال پای ته ورسيدی اودهجرت يوولسم کال پيل سو

دجبرئيل آمين عليه السلام راتګ !

له حجة الوداع څوورځی وروسته جبرئيل عليه السلام ديونا اشناسړی په څير سپينی جامی په تن وی دنبی کريم ﷺ په دربار کې حاضر سو اوله نبی کريم ﷺ سره نژدی ډير په ادب اودرناوی سره چی دواړه زنګنونه يې دنبی کريم ﷺ له زنګنو سره پيوست کړل کښينستی اودايمان اواسلام اواحسان اودقيامت دعلاماتو اودقيامت داحوالو په اړه يې پوښتنی وکړی نبی کريم ﷺ ځوابونه ورکړل کله چی ولاړسو نونبی کريم ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم ته وفرمايل تاسو وګوری داسړی څوک وو صحابه کرام رضی الله عنهم چی کله دباندی راووتل هيڅ نښنه اونښانه يې ونه ليدله نبی کريم ﷺ وفرمايل داجبرئيل آمين وو تاسو ته ددين دزدکړی لپاره راغلی وو مابه تل دئ پيژندی مګر نن می ونه پيژندی ..

حکمت :نبی کريم ﷺ جبرئيل عليه السلام په سدرة المنتهی اوافق مبين کې په اصلی شکل کې هم ليدلی دی لکه چی الله تعالی فرمايې ﴿وَلَقَدْ رَآهُ بِالأُفُقِ الْمُبِينِ﴾ (۲۳) سورة التکوير) ولقدرآه نزلة اخری عندسدرة المن﴿وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى﴾ ()﴿عِندَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى﴾ (۱۴) سورة النجم) اوله دې پرته ډير ځله دنبی کريم ﷺ په خدمت کې حاضرسوی دی جبرئيل عليه السلام چی به په کوم شکل اوهيئت کې نبی کريم ﷺ ته راتلی نوهغه به پيژندی چی داجبرئيل عليه السلام دی خو داځل ديوه

سیف لودین کتابتون

دالله ﷻ داستازی په حیثیت سره نه وو چې پیغام یې راوړی وی ځکه نبي کریم ﷺ په اول ځل ونه پیژندی کله چې جبرئیل علیه السلام له مجلس ولاړ سو بیا یې وپیژندی ځکه دئ دیو سوال کوونکي په شکل کې ښکاره سوی وو دالله ﷻ داستازی په حیثیت سره وحی اودالله ﷻ پیغام نه وو راوړی که داسی وای خامخا به یې پیژندلی وو

دهجرت یوولسم ۱۱ کال داسامة بن زید رضی الله تعالی عنه سریه !

دهجرت یوولسم کال دصفری دمیاشتی ۲۶ ددوشنبی په ورځ رسول الله ﷺ دروميانو دمقابلی لپاره داسامه بن زید لښکر ته دابنی په نامه ځای ته لیږلو حکم وکي داهغه ځای دی چې دموته غزا پکی سوی وه او په هغې کې داسامه بن زید ؓ پلار زید بن حارثه ؓ او جعفر طیار ؓ او عبدالله بن رواحه او نور صحابه کرام ؓ شهیدان سوی وو داآخری سریه وه اودنبی کریم ﷺ دلیږل سویو فوځو آخری فوځ وو اسامه بن زید بن حارثه ؓ نبی کریم ﷺ د لښکر امیر اومشروټاکی په دې لښکرکې دمهاجرو او انصارو ؓ ډیر لوی عزتمند صحابه کرام ؓ هم شامل وو دچهارشنبی په ورځ دنبی کریم ﷺ ناروغی پیل سوه دپنځ شنبی په ورځ نبی کریم ﷺ سره له دی چې ناروغه وو خو په خپل لاس مبارک یې بیرغ جوړکي او اسامه ؓ ته یې ورکړ اودا یې وفرمایل (اغزباسم الله وفی سبیل الله فقاتل من کفربالله) دالله ﷻ په نامه دالله ﷻ په لاره کې جهاد وکړه ودالله ﷻ له نه منونکو سره جګړه کوه ،، اسامه ؓ بیرغ راواخیستی اودباندی راووتی اوبریده اسلمی ؓ ته یې وسپاری اوفوځ یې دجرف په نامه ځای کې راغونډکی اوټول عزتمند صحابه کرام مهاجرین اوانصار رضوان الله تعالی علیهم اجمعین په ډیر خوښی هلته راټول سو عباس ؓ اوعلی ؓ دنبی کریم ﷺ دناروغي له کبله مدینی ته بیرته ستانه سو اوابوبکرصدیق ؓ اوعمرفاروق ؓ هم له اسامه ؓ څخه اجازه وغوښته اودنبی کریم ﷺ دلیدلو لپاره راغلو دپنځ شنبی په شپه دنبی کریم ﷺ ناروغی ډیره سوه دماخستن دلمانځه لپاره یې مسجدته تشریف راوړی خو ابوبکرصدیق ؓ ته یې دلمانځه دامامت امروکي اوهغه یې مخ ته کي ، فوځ دجرف په نامه ځای کې وو چې له مدینی منوری څخه لږ لیری دی ددوشنبی په سهار نبی کریم ﷺ لږ ښه سو او صحابه کرام ؓ دروانیدو نیت وکی دوئ په دې تیاری بوخت وو چې داسامه ؓ مور ام ایمن ځوک ورولیږی چې نبی کریم ﷺ دوفات په حالت کې دی لږ وخت لانه وو تیرسوی چې داویرونکي خبر راورسیدی چې نبی کریم ﷺ وفات سو ، انالله وانا الیه راجعون ، ټوله مدینه غمو پرسر واخیسته اوټول فوځ بیرته مدینی منوری ته راستون سو بریده ؓ بیرغ راوړی اودحجری مبارکی په دروازه یې ودروی دنبی کریم ﷺ له وفات وروسته چې کله ابوبکرصدیق ؓ خلیفه سو نو لومړني کاریې داوو چې سره له مخالفته یې داسامه ؓ لښکرولیږی اوترجرف پوری په خپله درخصت لپاره ورسره ولاړی اوداسامه لښکر روان سو څلویښت ورځی وروسته بیرته بریالی راستون سو په جنګ کې

چې هرڅوک مخ ته ورته راغله هغه يې ترتيغ تيرکړه او دخپل پلارزيد بن حارثه ﷺ قاتل يې هم قتل کي او دراتګ په وخت کې يې درومیانو کورنه اوباغونه وسوځول ابوبکرصدیق رضي الله عنه چې کله ددوئ له راتګه خبرسو د هرکلي لپاره له مدينې منورې دباندې ووتی اوددوئ هرکلئ يې وکي کله چې مدينې ته داخل سو اسامه ﷺ په مسجدنبوي کې دشکردوه رکعته لمونځ اداکی اوبيايې خپل کورته تشريف يووړی

نبي کريم ﷺ دآخرې منزل لپاره دسفرتياری !

له حجة الوداع وروسته رسول الله ﷺ دآخرت دسفر تياری پيل کي ټوله ورځ اوشپه به په تسبيح حمد ، توبه او استغفار کي، بوخت وو ترڅو نومخکې نبي کريم ﷺ ته دخپل وفات رانږدې کيدل دالله ﷻ په دې پيغام معلوم سو الله تعالى فرمايي ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾ ﴿وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا﴾ ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾

کله چې دالله ﷻ مرسته او فتح راسي او ته خلک وويني چې دالله ﷻ په دين کې ډلې ډلې داخليږي نو دالله عزوجل په پاکي بيانولو او ستايلو او ښښنه غوښتلو بوخت سه رښتيا هم الله ﷻ ډير توبه قبلونکي ذات دی .

يعنې چې کله فتح او دالله ﷻ مرسته راغله هغه چې الله ﷻ ژمنه کړې ده او دکفراوشرک ريښې له بيخه وختلې او دالله ﷻ ديووالی بيرغ پورته سو او حق ته دباطل په پرتله ښکاره بری وربه برخه سو او خلک ډلې ډلې په دين اسلام کې داخل سو او دنياته دالله ﷻ پيغام ورسيدی او دين پوره سو نو دنياته ستاد راليږلو چې کوم هدف وو هغه پوره سو او ستا چې کوم کارو و هغه وسو اوس موږ ته دراتلو تياری کوه دبيت الله شريف زيارت وسو اوس درب البيت دحج تياری کوه الله تعالى چې ته دکوم کارلپاره دنياته ليږلی وی هغه کارپای ته ورسيدی کوم چاچې ته دنياته ليږلی وې اوس بيرته هغه ته ورسه او هغه ته دتلو تياری وکړه دانيستی کيدونکي دنياستادا و سيدو ځای نه دی ستا په څير دپاکو اروا حو لپاره ملأ اعلى او رفيق اعلى سره يوځای کيدل مناسب دی ،، ځکه نبي کريم ﷺ به په ولاړه او ناسته او تلو راتلو کې هروخت داکلمات لوستل (سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ،، اوکله . سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ ،، اوکله داسې لوستل . سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ) داټول روايتونه په تفسير درمنثور جلد ۶ /ص/ ۴۰۸ کې ذکرسوي دي سورة النصر)

رسول الله ﷺ يوځل فاطمې رضي الله عنها ته وفرمايل چې جبرئيل عليه السلام به په هره روژه کې زماسره يوځل قرآن کريم تيروی مګر په دې روژه کې يې دوه ځلې راسره تيرکي زه ګمان کوم چې زمادسفر وخت رانږدې سوی دی هرکال به نبي کريم ﷺ لس ورځې اعتکاف کوی خوپه همدې کال يې شل ورځې اعتکاف وکي په حجة الوداع کې چې کله داآيت نازل سو اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا (۳ آيت سورة المائدة) نبي کريم ﷺ پوه سو ځکه يې دحج په خطبه کې اعلان وکي چې کيدای سي تردې وروسته زه ستاسوسره يوځای نه سم او کيدای سي بيازه له تاسوسره حج ونه کړم او بيايې دغديرخم په خطبه کې

سیف لودین کتابتون

وفرمایل: زه یو بشریم او د بشر لپاره همیشه والی نسته (وماجعلنا لبشر من قبلک الخلد) کیدای سی چی زما درب ﷺ استازی زما د بللو لپاره راسی ځکه دحجة الوداع له راستنیدو وروسته یې یوه ورځ جنت البقیع ته تشریف یوړی او اته کاله وروسته یې داحد پر شهیدانو باندې دجنازې لمونځ وکي او ددوئ لپاره یې دعاء وکړه لکه څنګه چی څوک رخصت کیږي دبقیع څخه چی کله راغلی نو په مسجد نبوی کې منبر ته پورته سو او خطبه یې ولوسته داسی یې وفرمایل: چی زه تر تاسو مخکې روان یم ددې لپاره دحوض تیاری کوم او زماله تاسو سره په حوض کوثر باندې دیوځای کیدو وعده ده او زه خپل ځای په حوض کوثر کې وینم او ربتیا هم ماته دځمکې دخزانو کلیانې راکول سوی دی او زه له دې څخه نه ویریږم چی تر ما وروسته به تاسو په شرک اخته سی یعنی لکه څنګه چی مخکې ټول قوم په شرک اخته وو خو داویره راسره شته چی تاسو به د دنیا په مینه او حرص او طمع او په خپل مینځ کې یو تر بل د دنیا په ډیرولو بوخت سی او په خپل مینځ کې به جنګونه وکوی او هلاک او برباد به سی (۱)

دنبی کریم ﷺ ناورغي پیل کیدل دهجرت ۱۱ کال دصفری میاشت !

دهجرت یوولسم کال وو دصفری دمیاشتی آخری لس ورځی وی نبی کریم ﷺ یوه شپه له خوبه راپورته سو او خپل مریی ابو موهیه یې راکښینوی او ورته وې فرمایل چی ماته حکم سوی دی چی دجنت البقیع د هدیری دمړو لپاره دبښنی دعا وکړم هدیری ولاړی او دعاء یې وکړه کله چی بیرته راستون سو نو ناڅاپه یې مزاج ناروغه سو دسردرد او تبه ورته پیښه سوه په همدې ورځ نبی کریم ﷺ دام المؤمنین میمونه رضی الله عنها دنوبت ورځ وه او چهارشنبه وه په دې حالت کې نبی کریم ﷺ ډیرواره دامهات المؤمنین وخواته ورغلی کله چی یې مرض ډیر سو نوله نورو بیبیانو څخه یې اجازه وغوښته چی زه به پاته شپې دعائشه صدیقه حبیبه رضی الله تعالی عنها سره تیری کړم ددوشنبی په ورځ دعائشه صدیقه حبیبة رسول الله ﷺ حجری ته نقل سو او تر راتلونکی دوشنبی پوری دعائشی صدیق رضی الله عنها په حجره کې وو دیارلس یا څورلس ورځی نبی کریم ﷺ ناروغه وو د آخری اوونی دناروغي ټولی ورځی یې دعائشی صدیق حبیبی رضی الله عنها په حجره کې تیری کړې (۲)

په یو روایت کې راغلی دی چی جبرئیل علیه السلام چی کله اذاجاء نصرالله، سورة راوړی نو نبی کریم ﷺ وفرمایل اې جبرئیل علیه السلام په دې سورة کې ماته دخپل مرګ خبر راکړل سوی دی جبرئیل علیه السلام وویل (وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَىٰ) رواه الطبرانی من حدیث جابر رضی الله عنه (۳) دنبی کریم ﷺ دناجوړی په وخت کې اسود عنسی او مسیلمة الکذاب او طلیحه اسدی دنبوت دعوه وکړه او نبی کریم ﷺ ته دخلکو دمرتد کیدو خبر ورسیدی نبی کریم ﷺ له مرتدینو سره دجهاد وصیت او ټینګار وکی او د اسود عنسی دوژلو لپاره یې دانصارو رضی الله عنهم یو ټولګی ولیږی دنبی کریم ﷺ تر وفات یوه ورځ مخکې اسود عنسی ووژل سو (۴)

---

(۱) زرقانی جلد ۸ ص/ ۲۵۱، ۲۵۲ ــــ (۲) زرقانی جلد ۸ ص/ ۲۵۱
(۳) زرقانی جلد ۸ ص/ ۲۵۰، ۲۵۱ ــــ (۴) ابن الاثیر جلد ۲، ص/ ۲۵۳

سیف لودین کتابتون

په صحیح البخاری کښې له عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه روایت سوی دی وایې چې نبی کریم ﷺ په مرض الوفات کښې داو فرمایل : چې دا دهغو زهروا اثر دی چې ماپه خیبر کښې خوړلی وو دبخاری په یوه بل روایت کښې راغلی دی چې دنبی کریم ﷺ عادت شریف وو چې کله به ناروغ سو نومعوذات یعنی سورة اخلاص اوسورة فلق اوسورة الناس به یې لوستل اوپر ځان به یې دم کوي اوبیابه یې خپل لاس مبارک پر ټول بدن راتیرکي عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایې : چې مابه دنبی کریم ﷺ په آخری ناجوړی کښې معوذات لوستل اوپه نبی کریم ﷺ باندی می دم کوی خودبرکت لپاره به مې دنبی کریم ﷺ لاس مبارک دهغه پربدن راتیروی !

دسیدة النساء فاطمة الزهرا رضی الله تعالی عنها وینا

دناجوړی په وخت کښې نبی کریم ﷺ فاطمة الزهراء رضی الله عنها راوغوښتله اوپټه خبره یې ورته وکړه فاطمی رضی الله عنها وژړل تردی خبری وروسته یې بله پټه خبره ورته وکړه دې وخندل عائشه صدیقه رضی الله عنها وایې چې موږ دنبی کریم ﷺ له وفات وروسته له فاطمی رضی الله عنها څخه وپوښتل نودې وویل چې په لومړی ځل ماته نبی کریم ﷺ وفرمایل چې جبرئیل علیه السلام به له ماسره هرکال یوځل قرآن تیروی خوسږکال یې دوه ځلی دور راسره وکي زماخیال دی چې په دې ناروغی کښې به زه وفات کیږم فاطمة رضی الله عنها وایې ماچې کله داخبره واوریدله نوومې ژړل وروسته بیانبی کریم ﷺ وفرمایل چې زماپه کورنۍ کښې به ته ترټولو مخکښې له ماسره یوځای سی نوپه دی دویمه خبره زه خوشاله سوم اوومی خندل شپږ میاشتی وروسته فاطمة الزهراء رضی الله عنها له دنیا رخصت سوه ،، په یوروایت کښې راغلی دی چې نبی کریم ﷺ دویم ځل داسی وفرمایل چې ته به دجنت دټولو ښځو سرداره یې (۱)

عائشه صدیقه حبیبه رضی الله عنها وایې چې رسول الله ﷺ چې کله دبقیع له هدیری راستون سونوزماپه سرباندی دردوو په همدې حالت کښې زماله ژبې داټکی ووتل (وارأساه) افسوز زماسره ته به اوس ولاړسی یعنی مرګ به درته راسی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل (بل انا اقول وارأساه) بلکې زه وایم چې اې زماسره مطلب یې داوو چې زماپرسرباندی سخت درد دی کیدای سی دادرد زمادمړینی پیل وی وروسته یې وفرمایل اې عائشه رضی الله عنها که ته ترمامخکښې مړه سی نوزماڅه زیان دی زه به ستاکفن اوښخیدلو انتظام وکړم اوپرتابه جنازه وکړم اوستالپاره به دبخښنی دعاوکړم عائشه صدیقه رضی الله عنها دناز په ډول وویل ګواکی ته زمامرګ غواړی که زه له دنیارخصت سوم نوته به په هغه ورځ زماپه کورکښې له بلی ښځي سره آرام کوی یعنی زماله مرګ وروسته به ماهیره کي اودنورو بیبیانوسره به یې نبی کریم ﷺ چې داخبره واوریدله وې خندل (چې دادغافلو مؤمنوښځوڅخه ده داخبره نه ده چې زه له دنیاتلونکي یم اودابه زماڅخه وروسته ژوندی وی (۲)

(۱) فتح الباری جلد ۸

سیف لودین کتابتون

دکاغذ نه راوړلو پېښه !

تر وفات څلور ورځې مخکې دپنځ شنبې په ورځ چې کله دنبي کريم ﷺ ناجوړي سخته سوه يوشمير صحابه كرام ﷺ په حجره کې ناست وو دوئ ته يې وفرمايل چې كاغذاوقلم اومشوانۍ راوړې ددې لپاره چې زه تاسوته يوه وصيت نامه وليکم ترڅو وروسته به تاسو ګمراه نه سۍ ددې خبرې په اوريدوسره په مجلس کې اختلاف پېښ سو عمرفاروق ﷺ وويل چې نبي کريم ﷺ ناروغ دی درد يې ډير سخت دی په داسې حالت کې تکليف ورکول مناسب نه دی زمونږ سره كتاب الله شته چې مونږ له لاروركيدوساتي دازمونږ لپاره كافي دی يوشميرنوروصحابه كرام ﷺ پردې ټينګارکوی چې قلم او کاغذدی راوړل سي اودوصيت ليکل مناسب كاردی دوئ وويل (أَهَجَرَ اِسْتَفْهِمُوْهُ) آيانبي کريم ﷺ دناروغۍ له کبله دبې هوښۍ په حالت کې معاذالله هسې بې معنى خبره کړې ده په خپله له نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړئ يعنى هغه دالله ﷻ نبي ﷺ دی دهغه له ژبې اوزړه دخطاء اوغلطۍ خبره نه وزی معاذالله دنورو خلکوپه څېرنه دی چې دناروغۍ په وخت کې غلطې خبرې کوی په حديث شريف کې راځي چې نبي کريم ﷺ يوځل خپلې ژبې مبارکې ته اشاره وکړه اوويې فرمايل قسم په هغه ذات چې دهغه په لاس کې زماساه ده له دې ژبې په هيڅ حالت کې پرته له حق بل څه نه وزی داجمله (اهجراستفهموه) دعمرفاروق ﷺ خبره نه ده بلکې دهغه خلکوده چې دهغوئ رايه دعمرفاروق ﷺ خلاف وه دعمر ﷺ داخوښه وه چې قلم او کاغذدې راوړل سي ودې ليکل سي دې خلکودعمر ﷺ په ځواب کې وويل (اهجراستفهموه) مطلب يې داوو چې کله نبي کريم ﷺ حکم کوی نوولې دې ونه ليکل سي معاذالله دنبي کريم ﷺ له ژبې څخه هيڅ مهمل اوبې معنى خبره وتل ممکن نه دی ځکه دې خلکواهجراستفهموا داستفهام انکاری په ډول سره الزاماً وويل په خپله ددې ويونکې نه وو اوپه کوموروايتوکې چې داجمله پرته له حرف استفهام راغلې ده هغه هم په استفهام باندې محمول دی اوحرف استفهام په هغه ځای کې مقدرپټ پروت دی ...

په مجلس کې چې کله اختلاف ډيرسو اوزونږ اوشورزيات سو نبي کريم ﷺ وفرمايل زماڅخه ولاړسې ماپرخپل حال پرېږدی په کوم حال کې چې زه يم هغه ښه دی ترڅو چې کومې خواته تاسورابولم ترڅو وروسته له ډيرې ناورغي سره سره نبي کريم ﷺ خلکوته په يادددرو شيانو وصيت وکې (١) اول داچې له جزيرة العرب څخه مشرکين وباسئ يعنى په جزيرة العرب کې بايديو مشرک هم ونه اوسيږی (٢) دويم داچې دپلاوی درخصتيدوپه وخت کې بايد تحفې اوډالۍ ورکړی لکه څنګه چې به ماهغوئ ته ډالۍ ورکولې (٣) دريم خبره نبي کريم ﷺ نه وکړه ياداچې له راوی هيره سوې ده (بخاری ومسلم)

يوشميربيا وايې چې دريمه خبره داوه چې په قرآن باندې عمل کوي يااسامه ﷺ لښکرولېږی اوياداچې زماله وفات وروسته زماقبر دسجدوځای مه جوړوی اوياداچې دلمانځه باندې [illegible] خيال ساتئ ...

ف: دایقیني معلومه نه ده چې دکوموخبرونبي کریم ﷺ په یاد وصیت وکی ددې دلیکلولپاره یې قلم، کاغذاومشواني وغوښتل اوکه له دی خبرو پرته بله خبره وه

په بخاری اومسلم کې له عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ دناروغي په حالت کې داوفرمایل چې زمانیت ووچې دابوبکر رضی الله عنه اودهغه دزوی عبدالرحمن رضی الله عنه دراغوښتلولپاره څوک ولیږم اوهغوئ ته وصیت وکړم اوهغه خپل ولی عهدخلیفه وټاکم ددې لپاره چې څوک څه ونه وایې اوتمه کونکي تمه ونه کړی مگر وروسته مې بیاداارادہ پریښوده اودامی وویل چې دوصیت اړتیانسته الله تعالی له ابوبکرصدیق رضی الله عنه پرته بل څوک نه خلیفه کوی اومومنان هم له ابوبکرصدیق رضی الله عنه پرته دبل چاخلافت نه قبلوی اوپه یوروایت کې داالفاظ راغلی دی (معاذالله ان یختلف الناس علی ابی بکر) په الله ﷻ باندی پناه وروړم چې خلک دابوبکر رضی الله عنه په خلافت کې اختلاف وکړی له دی احادیثوڅخه په ډاگه ښکاره سو چې درسول الله ﷺ دزړه غوښتنه داوه چې ترده وروسته ابوبکرصدیق رضی الله عنه خلیفه سی مگر رسول الله ﷺ په تقدیراودصحابه رضی الله عنهم پراجماع باندی داخبره پریښوده چې دقضاء اوتقدیر څخه به داپریکړه وی چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه به خلیفه وی اودمسلمانانوداهل حل عقدبه په اتفاق سره د ده خلافت تائیدکوی اوټول مسلمانان به دده په خلافت باندی یوه خوله وی دامام بخاری له خبرودامعلومیږی چې ددې حدیث څخه دابوبکرصدیق رضی الله عنه دخلافت لیکل مراددی ځکه امام بخاری په کتاب الاحکام کې ددې حدیث ترجمه داسی ایښي ده (باب الاستخلاف) له دې معلومه سوه چې ددې حدیث اشاره وخلافت ته ده (زرقانی جلد ۸ /ص /۲۵۷،، اوقسطلانی جلد ۱۰ /ص /۲۶۰.. اوفتح الباری جلد ۱۳ /ص /۱۷۷)

په کوم مجلس کې چې دکاغذاوقلم واقعه پیښه سوه اودخلکواختلاف پیښ سو په دی وخت کې نبی کریم ﷺ وفرمایل چې له ماولاړسی دالله ﷻ دپیغمبر علیه السلام په څنگ کې اختلاف اوناری پورته کول مناسب نه دی صحابه کرام رضی الله عنهم ولاړسو ددوئ له تگه وروسته نبی کریم ﷺ آرام وکي دماپښین دلمانځه وخت راغلی نبی کریم ﷺ یوڅه ښه سو اودمرض له ډیری سختی یوڅه آرام سو په همدی وخت کې یې وفرمایل چې اووه ژی اوبه زماپرسرباندی واچوي کیدای سی چې څه ښه سم اوخلکوته وصیت وکړم دنبی کریم ﷺ دحکم برابراووه ژی اوبه راوړل سوی اوپرده یې واچولی (۱) نبی کریم ﷺ دغسل کولوله کبله څه آرام سو اودعباس رضی الله عنه اوعلی رضی الله عنه په مرسته یې مسجدته تشریف یوړی اولمونځ یې آداکی دماپښین لمونځ وو اوترلمانځه وروسته یې خطبه وویله دادهغه مبارک ﷺ اخری خطبه وه (۲) دادصحیح بخاری روایت دی اوپه صحیح مسلم کې راغلی دی چې داخطبه تروفات پنځه شپې یعنی څلور ورځی مخکې وه حافظ عسقلانی وایې په دی حساب سره داخطبه دپنج شنبی په ورځ وویل سوه (۳)

---

(۱) ددارمی په روایت کې راغلی دی چې داوو ژیانواوبه دمدینی منوری له بیلابیلوکوهیانوڅخه راوړل سوی دی لکه چې په اتحاف شرح الاحیاء کې راغلی دی)

(۲) قال الحافظ ابن کثیر وقد خطب علیه الصلوة والسلام فی یوم الخمیس قبل ان یقبض علیه السلام بخمس آیام خطبة عظیمة بین فیها فضل الصدیق من سائر الصحابة رضی الله عنهم مع ماکان قدنص علیه ان یؤم الصحابة اجمعین بماسیئاتی بیانه مع حضورهم کلهم ولعل خطبة هذه کانت عوضاعماارادان یکتُبَ فی الکتاب قداغتسل علیه الصلوة والسلام بین یدی هذه الخطبة الکریمة نصبواعلیه من سبع قرب لم تحلل اوکیتهن وهذامن باب الاستشفاء بالسبع کماوردت بها الاحادیث فی غیرهذاالموضع والمقصودانه علیه الصلاة والسلام اغتسل ثم خرج فصلی بالناس ثم خطبهم کماتقدم فی حدیث عائشة رضی الله تعالی عنها کذافی البدایة والنهایة [illegible]

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم آخری خطبه !

نبی کریم ﷺ چې کله له لمانځه خلاص سو منبرته پورته سو دالله ﷻ ستاینه اوصفت یې وویل ترټولو مخکې یې دأحد دشهیدانو یادونه وکړه اوددوئ لپاره یې دبښنې دعاوکړه بیایې مهاجرین ته مخ واړوی وې فرمایل چې تاسوبه ډیر یاست اوانصار ؓ به لږوی تاسوپه دې پوه سی چې انصارو ؓ ماته ځای راکړی دی په دوئ کې چې کوم نیک عمل اوښه سړی وی له هغه سره نیکی کوي اوپه دوئ کې چې له چاڅخه غلطی وسی نوله هغه مخ اړوی بیایې وفرمایل اې خلکوالله ﷻ خپل یوه بنده ته اختیارورکړی دی چې ته ددنیانعمتونه غواړې مګر هغه بنده دالله ﷻ سره دنعمتویعنی آخرت غوره کړابوبکرصد یق ؓ خوډیرلوی عالم وو په دې پوه سو چې هغه بنده نبی کریم ﷺ په خپله دی نوددې خبرې په اوریدوسره یې وژړل اووې ویل یارسول الله ﷺ زمامور اوپلاردی ترتاقربان سی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : اې ابوبکر ؓ صبروکړه آرام سه وروسته یې وفرمایل چې دمسجدخواته چې دخلکوکومې دروازې خلاصې سوی دې هغوته یې اشاره وکړه وې فرمایل چې داټولې دروازې بندی کې (۱) یوائې یوه لوړه دروازه دابوبکرصدیق ؓ دې خلاصه پاته سی ، دځان اومال دوستی اوملګری په اعتبارسره ترټولوډیر نیکې کونکې پرماباندی ابوبکرصدیق ؓ دی ترابوبکرصدیق ؓ ډیر اولوی احسان کونکې نسته هرچاچې له ماسره نیکې کړی ده مادهغه بدله ورکړی ده پرته له ابوبکرصدیق ؓ دده دنیکیوبدله به الله تعالی دته دقیامت په ورځ ورکوی که چاپه خپل خوښه ځانی ورور جوړولای سوای نومابه ابوبکرصدیق ؓ خپل وروګرزولی وو مګر له هغه سره زمااسلا می ورورګلوی اودوستی ده په دې ورور ګلوی کې ابوبکرصدیق ؓ ترټولوغوره دی له ده سره بل څوک نه سی برابریدلای (۲)

لنډه داچې نبی کریم ﷺ په دې خطبه کې دابوبکرصدیق ؓ دومره فضائل اوغوره اخلاق بیان کړه چې په دې کې بل څوک له هغه سره نه سی برابریدلای ددې لپاره چې دخلکوپه مخکې دهغه غوره والی ښکاره سی اوله نبی کریم ﷺ څخه وروسته دهغه په خلافت کې څوک اختلاف ونه کړی اوددې تاکیدلپاره یې غوره عبادت یعنی دلمانځه امامت هغه ته وسپاری ، لکه څنګه چې صحابه کرامو ؓ دبیعت په وخت کې داوویل چې دالله ﷻ رسول ﷺ چې کوم سړی زمورددین لپاره غوره کړی دی موږبه هغه دخپلې دنیایعنی خلافت لپاره ولی نه غوره کوو (۳)

(۱) دسعدبن ابی وقاص ؓ په یوروایت کې راغلی دی چې رسول الله ﷺ حکم وکې چې دمسجدخواته چې څومره دروازې دی هغه دې ټولې بندې سی پرته دعلی ؓ له دروازې هغه دې خلاصه پاته سی (رواه احمدوالنسائی خودې ته موباید فکروی چې داحکم هغه وخت سوی وو کله چې مسجدنبوی جوړیدی یعنی دهجرت په پیل کې داپیښه سوی ده اودابوبکرصدیق ؓ ددروازې خلاصیدل اودنوروبندیدلوحکم دمرض الوفات په وخت کې سوی دی نوآخری حکم دلومړنی حکم لپاره ناسخ دی
(۲) البدایه والنهایه جلد ۵ /ص /۲۲۹، فتح الباری جلد ۷ /ص /۱۰، اتحاف شرح احیاء علوم الدین جلد ۱ /ص /۲۸۷)
(۳) زرقانی جلد ۸ /ص /۲۵۴)

سیف لودین کتابتون

ورسته یې په دې خطبه کې وفرمایل چې داسامه ﷺ لښکر ډیر ژر ولیږئ او وې فرمایل چې زه په دې خبریم چې یوشمیر خلک (ابن سعد وایې چې دامنافقان وو) داسامه ﷺ په امارت اومشرۍ باندې ګوت نیونې کوې دوئ وایې چې دمشرانوپه شتون کې ځوان ته دومره لوړ مرتبه ځنګه ورکړل سوه تاسوپه دې خبرسئ چې دې خلکوترده مخکې دده دپلار زید ﷺ په مشرۍ باندې هم ګوت نیونې کولې قسم په الله ﷻ دده پلار زید ﷺ هم دامارت اومشرۍ وړوو اودده زوې اسامه ﷺ ترده وروسته هم دامارت اومشرتو ب وړاولائق دې اوزماله ډیرونږدې دوستانوڅخه دې

وروسته یې وفرمایل چې دالله ﷻ لعنت دې وې په یهوداونصارې وو باندې ځکه دوئ دخپل پیغمبرانوقبرونه دسجدې ځایونه جوړکړه دنبي کریم ﷺ هدف خپل امت داخبرورکول وو چې تاسودیهوداونصاراوو په څیرزماقبردسجدې ځای مه جوړوئ، اودایې وفرمایل اې خلکوماته داخبررارسیدلې دې چې تاسودخپل نبي ﷺ په مرګ ډیر ویریدلې یاست؟ آیاکوم یونبي ﷺ ترمامخکې په خپل امت کې دتل لپاره پاته سوی دی چې زه په تاسوکې تل پاته سم ﴿وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ الْخُلْدَ﴾ (۳۴آیت سورة الانبیاء)،، ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ﴾ (۱۴۴آیت سورة آل عمران) تاسوپه دې خبرسئ زه دالله ﷻ خواته تلونکې یم اوپه دې خبرسئ چې تاسوبه هم دالله ﷻ سره یوځای کیږئ زه ټولو مسلمانانوته وصیت کوم چې له لومړنیو مهاجرینوسره ښه سلوک اوچلند کوئ اولومړنیو مهاجرینوته وصیت کوم چې په تقوی اوښه عمل باندې تل واوسیږئ ځکه دالله ﷻ ارشاددی ﴿وَالْعَصْرِ﴾ (۱) ﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ (۲) ﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾ (۳) اواې مسلمانانوزه تاسوته دانصارو ﷺ په هکله وصیت کوم چې له دوئ سره اوښه چلندکوئ انصارو ﷺ اسلام اوایمان ته ځای ورکړی دی اوپه ځمکواوباغواومیووکې یې تاسوله خپل ځانوسره شریک کړي یاست اوسره له لوږې اوبې وزلې یې تاسوپرخپلوځانوغوره کړي یاست لکه چې الله تعالی فرمایي ﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾ (۹) آیت سورة الحشر)

وروسته یې وفرمایل چې په دې خبرسئ چې زه ترتاسومخکې روان یم اوتاسوبه هم له ماسره یوځای کیږئ په حوض کوثرباندې به دیوځای کیدو زمااوستاسووعده وی وروسته له منبره راکښته سو اوحجرې مبارکې ته یې تشریف یووړ (البدایه والنهایه جلد ۵ ص/ ۲۲۹)

درسول الله دجماعت آخري لمونځ اوابوبکرصدیق ﷺ ته دلمونځ ورکولو حکم!

درسول الله ﷺ چې ترڅه وخته توان وو ترهغه وخته یې مسجدته تشریف راوړی اولمونځ به یې ورکوی آخري لمونځ چې رسول الله ﷺ په جماعت ورکړی دی هغه دپنج شنبې دماښام لمونځ وو چې ترهغه څلور ورځې وروسته ددوشنبې په ورځ نبي کریم ﷺ وفات سو په صحیح بخاری کې له ام الفضل ﷺ څخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ موږته

سیف لودین کتابتون

بیانبی کریم ﷺ موږ ته یولمونځ هم نه دی راکړی ترڅوچې وفات سو کله چې دماخستن دلمانځه وخت راغلی نونبی کریم ﷺ پوښتنه وکړه چې آیاخلکو لمونځ کړی دی ورته وویل سوچې یارسول الله ﷺ خلک ستاپه انتظارناست دی نبی کریم ﷺ څوځلې دولاړیدو نیت وکی خودمرض دسختی له کبله به بیهوښه سو آخر یې وفرمایل چې ابوبکرصدیق ؓ ته زماله لوری حکم وکي چې هغه خلکوته لمونځ ورکړی عائشه صدیقه ؓ وویل یارسول الله ﷺ ابوبکر ؓ خونرم زړی سړی دی کله چې ستاپرځای ودریږی نوپه هغه باندی به داسی حالت راسی چې خلکوته به لمونځ نه سی ورکولای اوډړاله امله به خلکوته خپل قرائت هم نه سی اورولای ځکه ته عمرفاروق ؓ ته دلمونځ ورکولو حکم وکړه ؟ عائشه صدیقه ؓ خوپه ښکاره داخبره وکړه خوپه زړه کې یه داوو چې کوم څوک چې دنبی کریم ﷺ په ځای ودریږی نوخلک به هغه سپیره وګڼی ؟ نبی کریم ﷺ ډیرخفه سو اووې فرمایل چې ته دیوسف علیه السلام دورونوپه څیریې په ژبه دې یوڅه دی اوپه زړه کې دې بل څه دی ، ابوبکر ؓ ته ووایاست چې لمونځ ورکی په صحیح بخاری کې راغلی دی چې دنبی کریم ﷺ دحکم کولووروسته عائشه صدیقه ؓ درې ځله انکاروکي خونبی کریم ﷺ به هرځل په ډیرټینګارسره دافرمایل چې ابوبکرصدیق ؓ ته ووایاست چې هغه لمونځ ورکړی ، ابوبکرصدیق ؓ لمونځ ورکړ..

امام غزالی رحمة الله علیه په احیاء العلوم کې دعائشه صدیقه ؓ روایت رانقل کړی دی وایې چې عائشه صدیقه ؓ دخپل زړه غوښتنه ښکاره کړه هغې دخپل پلارصدیق ؓ امامت ولی نه خوښوی (قالت عائشة ؓ ماقلت ذلک ولاصرفته عن ابی بکرالارغبة عن المخاطره والهلکة الاماسلم الله وخشیت ایضا ان لایکون الناس رجلاصلی فی مقام النبی صلی الله علیه وسلم وهوحی الاان یشاء الله یحسدونه ویعیبون علیه وینشائمون به فاذا الامر امرالله والقضاء قضائه وعصمه الله من کل مالخوفت علیه من امرالدنیا والدین)

ژباړه : عائشه صدیقه ؓ وایې چې ما دخپل پلار ؓ دامامت څخه ځکه انکارکوی چې زماپلار ددنیاڅخه لیری پاته سی ځکه عزت اومرتبه له خطری خالی نه وی په هغه کې دهلاک کیدو ویره وی مګر هغه څوک چې الله تعالی یې وساتی اوبل داویره وه راسره چې کوم سړی چې دنبی کریم ﷺ په ژوند کې دهغه پرځای دریږی نوخلک به له هغه سره کین کوی اوکیدای سی چې کین کونکي په هغه باندی تیری هم وکوی اوهغه سپیره هم وګڼی نوکله چې دالله ﷻ حکم اودهغه پریکړه اوتقدیرداسی وو چې زماپلاردرسول الله ﷺ خلیفه سی اودهغه پرځای باندی امامت ورکړی نوبیادادعاء ده چې الله تعالی دې زماپلارددنیا اودین له هرویریدونکي کارڅخه خوندی اوپه امن کې وساتی..

سبحان الله دصدیق ؓ لورصدیقه ؓ څومره پوه اوهوښیاره ده دې دلمانځه امامت دنبی کریم ﷺ په ژوند کې دابوبکرصدیق ؓ دراتلونکی خلافت اوامارت مقدمه وګڼله اوپه

سیف لودین کتابتون

زړه اوژبه یې داهغه وکړه چې زماپلار امام نه سی نه دی آمیر دامامت صغری سی اونه دکبری سی بل څوک دی لمونځ ورکړی ددې لپاره چې زماپلار ردډین اوددنیاله فتنو خوندی پاته سی داخویې دلور حالت وو اودابوبکرصدیق ؓ حالت دبیعت دخطبې څخه معلومیږی ابوبکرصدیق ؓ په خطبه کې وفرمایل : چې قسم په الله ﷻ مادددې امارت اوخلافت تمناهیڅکله نه په زړه کې کړی ده اونه می په ژبه سره دعاء غوښتی ده په مسلمانانو کې دفتنې له ویرې مې قبول کړی دی

دصدیق ؓ اوصدیقه ؓ داشان دی چې ددوئ زړه دمال اومرتبې له مینې پاک وو مګر داخبره یادساتئ چې دالله ﷻ نبی اودهغه رسول ﷺ چې دچاپه امامت باندی ټینګارکړی دی هغه ربښتینی امام المتقین دی اودهغه ښکاره اوپټ دامارت اوخلافت له طمع بیخی پاک دی اوهیڅ فتنې ته جوازنسته چې ددوئ خواته پورته وګوری

دالله رسول ﷺ چې کوم سړی په خپل ځای باندی ودروي پوه سه چې کوم رحمتونه دالله ﷻ په نبی ﷺ باندی وو هغه به اوس دده پرځای ناستی باندی خامخاوی ځکه دالله رسول ﷺ دالله ﷻ دحکم پرته خپل خلیفه اوځای ناستی نه سی ټاکلای لکه څنګه چې دیوپاچاپه خپل ژوند کې یوسړی ته خپل تخت وسپاری هغه سړی دهغه پاچاولی عهد جوړیږی دغه رنګه امام المتقین چې څوک پرخپله مُصَلّی باندی دامامت لپاره ودروی نوهمداددی وړدی چې دالله ﷻ درسول ﷺ خلیفه اوولی عهد سی

دخالی یایک شنبی په ورځ رسول الله ﷺ څه ښه سو دعباس ؓ اوعلی ؓ په مرسته نبی کریم ﷺ په خپله مسجدته تشریف راوړی ابوبکرصدیق ؓ په دغه وخت کې دماپښین لمونځ ورکوی نبی کریم ﷺ دابوبکرصدیق ؓ کیڼ طرف ته کښینستی اوپاته لمونځ یې خلکوته ورکړی ابوبکرصدیق ؓ اوس مقتدی سو اونبی کریم ﷺ امام سو اوپاته لمونځ کونکو دابوبکرصدیق ؓ په تکبیرو باندی لمونځ آداکي (بخاری شریف)

دادماپښین لمونځ وو اودنبی کریم ﷺ دجماعت آخری لمونځ وو تردی وروسته نبی کریم ﷺ مسجدته نه دی حاضرسوی اودام الفضل ؓ په روایت کې چې تیرسو چې دنبی کریم ﷺ آخری دجماعت لمونځ دماښام لمونځ وو له هغه څخه یوازې امامت مراددی چې له سره ترپایه چې یوازې په جماعت لمونځ ورکړی دی هغه دماښام لمونځ دی اودخالی په ورځ اسامه ؓ اونورصحابه کرام ؓ چې له ده سره دجهادملګری وو دنبی کریم ﷺ دپوښتنې لپاره راغلو اوله نبی کریم ﷺ څخه یې رخصت واخیستی روان سو له مدینې منورې څخه یو میل یایونیم میل په اندازه جُرُف ته ورسیدل هلته یې پړاو واچوی دنبی کریم ﷺ دحکم دعملی کولو لپاره روان سو مګر دنبی کریم ﷺ دناروغي له کبله دهیچا قدم نه پورته کیدی دیک شنبې په ورځ چې کله دنبی کریم ﷺ ناروغی سخته سوه اسامه ؓ خبرسو بیرته دنبی کریم ﷺ دلیدو لپاره مدینې ته راستون سو کله چې یې نبی کریم ﷺ ولیدی نونبی کریم ﷺ خبری نه سوی کولای اسامه ؓ ورنژدی سو

سيف لودين كتابتون

دواړه لاسونه اسمان ته پورته کړه بيايې په اسامه ﷺ باندي کېښودل اسامه ﷺ وايې زه پوه سوم چي ماته دعاء کوي وروسته اسامه ﷺ هغه ځای ته بيرته ولاړی چيری چي لښکرپراوا چولي وو (۱)

دابن سعد په طبقات کې اوزرقاني په شرح المواهب کې ليکی چي ديک شنبی په ورځ دلدود واقعه پيښه سوی ده ،، په صحيح بخاری کې له عائشه صديقه ﷺ څخه روايت سوی دی چي مونږ دنبی کريم ﷺ دمرض دسختوالي له کبله دافکر کوی چي دادذات الجنب ناروغی ده نو مونږ دنبی کريم ﷺ په خوله کې درمل واچول نبی کريم ﷺ په اشاره منع کړو خو مونږ دافکر وکړچي کيدای سی دادرمل دطبيعت خلاف وی لکه څنګه چي مريض عموماً دوانه خوښوی وروسته چي کله نبی کريم ﷺ يوڅه راپيداره سو نووې فرمايل آياماتاسو منع نه کړلاست ستاسو سزاء دادی چي دټولو په خوله کې به دوا اچول کيږی پرته له عباس ﷺ چي هغه په دې کې ګډون نه وو کړی (۲)

دنبی اکرم صلی الله عليه وسلم دوفات ورځ !

ددوشنبی په ورځ نبی کريم ﷺ له دې فاني دنيا څخه آباد کورته ته سفروکی اودرفيق اعلی له لوړو ملګرو سره يوځای سو ددوشنبی په سهارنبی کريم ﷺ دحجری مبارکی پرده پورته کړه ومسجدته يې وکتل ټول خلک صف صف ولاړدی دسهارلمونځ کوی صحابه کرام ﷺ چي ونبی کريم ﷺ ته وکتل نبی کريم ﷺ مسکی سو مخ يې داسی ښکاره سو ګواکی دقرآن کريم يوه پاڼه ده يعنی داسی سپين سوی دی صحابه کرام ﷺ دومره خوشاله سو چي داويره پيداسوه چي لمونځ مات نه کړی ، ابوبکرصديق ﷺ دانيت وکي چي راشاته سی خونبی کريم ﷺ اشاره ورته وکړه چي لمونځ پوره کړه ددېری کمزوری له کبله نبی کريم ﷺ دېر نه سو دريدلای نو دحجری پرده يې راښکته کړه اودننه بيرته ولاړی (رواه البخاری)

دنبی کريم ﷺ پرده پورته کول اولمونځ کونکوته کتل دادنبی کريم ﷺ دمخ مبارک آخری جلوه وه دصحابه کرام ﷺ لپاره دنبوت دښائست آخری زيارت وو دعاشقانو دحال په ژبه په دغه وخت کې داشعرلوستی وکنت اری کالموت من بين ساعةٍ ..... فکيف يبين کان موعده الحشر

ماخوديوه ګړی لپاره جدايې مرګ بلی مګر ددې جدايې به څه حال وی چي دملاقات وعده ترحشر وروسته وی

ابوبکرصديق ﷺ چي کله له لمانځه خلاص سو نوسيده حجری مبارکی ته راغلی اونبی کريم ﷺ يې وليدی عائشه صديقه ﷺ ته يې وويل چي نن خورسول الله ﷺ دېر آرام دی کوم درد اوناآرامی چي مخکې وه هغه اوس نسته دابوبکرصديق ﷺ دوې بيبيانی وی همدا ورځ دابوبکرصديق ﷺ په دوو بيبيانو کې ديوی دنوبت ورځ وه اوهغه له مدينی منوری څخه دوه ميله ليری اوسيدله ابوبکرصديق ﷺ له نبی کريم ﷺ اجازه وغوښته اوهلته ولاړی (۳)

(۱) طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص/ ۱۳۶)
(۲) فتح الباری جلد ۸ /ص/ ۱۱۲)

سیف لودین کتابتون

او د ابن اسحق په روايت کې راغلي دي چې ابوبکر صديق رضی الله عنه غوښتنه وکړه چې (يانبي الله انی اراک قد اصبحت بنعمة من الله وفضل کما نحب واليوم يوم بنت خارجة أفآتيها قال نعم) اې د الله ﷻ نبي ﷺ زه داسې فکر کوم چې د الله ﷻ په فضل او مهرباني سره تاسو په ښه حالت کې سهار کړ او نن زما د يوې ميرمنې حبيبه بنت خارجه رضی الله عنها د نوبت ورځ ده که اجازه وي نو زه هلته ولاړ سم نبي کريم ﷺ وفرمايل هو ولاړ سه.

نور صحابه کرام رضی الله عنهم چې هم په دې خبر سو چې نبي کريم ﷺ نن ډير ښه دی نو دوئ هم خپلو کورو ته ولاړل (١)

علي رضی الله عنه له حجرې د باندې راووتی خلکو د نبي کريم ﷺ د حالت پوښتنه ځني وکړه علي رضی الله عنه وويل الحمد لله نبي کريم ﷺ نن ډير ښه دی خلک ډاډه سو او خپلو کورو ته ولاړل عباس رضی الله عنه د علي رضی الله عنه لاس ونيوی ورته وې يل اې علي رضی الله عنه قسم په الله ﷻ درې ورځي وروسته به ته محکوم او بل څوک به حاکم وي قسم په الله ﷻ زه په دې پوهيږم چې رسول الله ﷺ به په دې ناروغي کې وفات کيږي ښه داده چې موږ له رسول الله ﷺ څخه په دې اړه بوښتنه وکړو چې تر تا وروسته به خليفه څوک وي که زموږ له کورنۍ څخه وي نو دا به راته معلومه سي او که نه نو نبي کريم ﷺ به وصيت راته وکړي؟ علي رضی الله عنه وويل کيداى سي چې رسول الله ﷺ زموږ په اړه انکار وکړي نو بيا به موږ د تل لپاره له دې بې برخي پاته سو قسم په الله ﷻ که له نبي کريم ﷺ سره په دې هکله يوه خبره هم وکړم (٢)

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د نزع حالت!

خلکو خو دا فکر وکي چې نبي کريم ﷺ نن ډير ښه دی دوئ ټول خپلو کورو او کاروته ولاړل لږ څه وخت نه وو تير سوی چې د زنکدن حالت پيل سو نبي کريم ﷺ د عائشه صديقه رضی الله عنها په غيږ کې سر مبارک کيښودی په دې وخت کې د عائشه صديقه رضی الله عنها ورور عبد الرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه راغلي په لاس کې يې مسواک وو عائشه صديقه رضی الله عنها وايې نبي کريم ﷺ هغه خواته وکتل ما ورته وويل يا رسول الله ﷺ آيا ستا لپاره مسواک راواخلم نبي کريم ﷺ وفرمايل هو ما ورته وويل لږيې نرم کړم نبي کريم ﷺ په اشاره وفرمايل هو ما هغه په خوله وژيېښي او هغه مسواک مې ونبي کريم ﷺ ته ورکی ځکه به عائشه صديقه رضی الله عنها د فخر او تحديث بالنعمة په ډول ويل چې الله تعالى په آخر د وخت کې زما د خولي لاړې د نبي کريم ﷺ د خولي مبارکې له لاړو سره يو ځاى کړي او د نبي کريم ﷺ وفات زما په حجره کې وو او زما د نوبت په ورځ وو او زما د سينې او زنې ترمينځ هغه مبارک ﷺ وفات سو)

ف:. ملا علي قاري له مشائخو څخه نقل کړی دی چې کوم سړی په مسواک باندې هميشه والي کوي نو د مرګ په وخت کې د هغه په ژبه باندې د شهادت کلمه جاري کيږي

(١) ابن هشام جلد ۴ /ص/ ٣٠٢)
(٢) البدايه والنهايه جلد ۵ /ص/ ٢٢٠)

سیف لودین کتابتون

دنبی کریم ﷺ په حجره کې داوبویوه پیاله پرته وه کله چې به له ډیره درده راکښینستی نو په هغه پیاله کې به یې په واروار لاس وهل او په مخ مبارک به یې اوبه تیرولی اودابه یې فرمایل (لااله الاالله ان للموت سکرات) له الله ﷻ پرته بل څوک دبندګي لائق نسته بیشکه دمرګ ډیر سختی دی ، بیایې دبام وخواته وکتل اولاس یې پورته کړل داسی یې وفرمایل (فی الرفیق الاعلی) اې الله ﷻ زه رفیق اعلی ته تګ غواړم یعنی حظیرة القدس هغه ځای چې دانبیاء اورسولانو علیهم السلام داوسیدو ځای دی هلته تګ غواړم

عائشه صدیقه رضی الله عنها وایې چې ما ډیر ځله له نبی کریم ﷺ څخه اوریدلی وو چې دیو پیغمبر علیه السلام روح ترهغه وخته پوری نه قبض کیږی ترڅو پوری چې دهغه ځای په جنت کې ورته ونه ښودل سی او هغه ته اختیار ورنه کړل سی چې ددنیا او آخرت څخه کوم ته غواړی هغه خوښ کړه کله چې دنبی کریم ﷺ له ژبی مبارک څخه داکلمات ووتل زه پوه سوم چې اوس به نبی کریم ﷺ له موږ سره نه پاته کیږی نبی کریم ﷺ ملأ اعلی دالله تړدیکت غوره کي لنډه داچې دنبی کریم ﷺ له ژبی مبارکی داکلمات ووتل (اللهم فی الرفیق الاعلی) اوروح مبارک یې لوړعالم ته والوتي اولاسونه مبارک یې لاندی پریوتل (بخاری شریف) صلی الله علیه واله وسلم

اِنَّالِلّٰهِ وَاِنَّآاِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ اِنَّالِلّٰهِ وَاِنَّآاِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ اِنَّالِلّٰهِ وَاِنَّآاِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ

دنبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم د وفات تاریخ !

داغمجنه پیښه چې ټوله نړۍ یې دنبوت اورسالت له برکاتو اوانوارو څخه بی برخی کړه ددوشنبی ورځ دغرمی وخت وو دلومړي خور دمیاشتی ۱۲ وه په دې کې خودهیڅ اختلا ف نسته چې دنبی کریم ﷺ وفات دلومړی خور په میاشت کې ددوشنبی په ورځ وو خواختلاف په دووخبروکې سته لومړی داچې هغه په کوم وخت کې وفات وسو دویم داچې دلومړی خور په څوومه اوکوم تاریخ باندی وو

دابن اسحق په مغازی کې راغلی دی چې دڅاښت وخت وو اودموسی بن عقبه په مغازی کې له زهری اوعروة بن زبیر رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چې دزوال په وخت کې وو داروایت ډیر صحی دی اوهمدا اختلاف هم ډیر معمولی اختلاف دی ځکه دڅاښت اوزوال په مینځ کې ډیر وخت نسته خودوفات دتاریخ په اړه اختلاف ډیر دی مشهور قول دادی چې دلومړی خور دوولسمه ۱۲وه موسی بن عقبه اولیث بن سعد اوخوارزمی ویلی دي چې دلومړی خوراوله دوفات ورځ ده اوکلبی اوابومخنف ویلی دی چې دلومړی خور دویمه دوفات ورځ وه علامه سهیلی په روض الانف کې اوحافظ عسقلانی په شرح بخاری کې همدا اخبره راجح ګرزولی ده

سیف لودین کتابتون

دنبی کریم ﷺ عُمر شریف دوفات په وخت کې څوکاله وو !

دوفات په وخت کې دنبی کریم ﷺ عمرشریف درې شپیته ۶۳ کاله وو داد جمهورو علماء قول دی او همدا قول ډیر صحی دی اویوشمیر خلک بیاوایې چې پنځه شپیته کال وو اونور بیا وایې چې شپیته کاله وو (۱)

دخبر خپریدل او دصحابه کرام رضوان الله تعالی علیهم اجمعین دغم او خفګان یوه عجیبه حالت (۲)

داغمجن خبر چې کله دصحابه کرام ﷺ غوږ ته ورسیدی نوپردوئ یو قیامت راغلی ددې خبر په اوریدو سره صحابه کرام ﷺ بیهوښه سو په ټوله مدینه کې غم خپورسو چاچې به داد غم پیښه اوریدله نوهک پک به حیران پاته سو ذی النورین عثمان غنی ﷺ دیوی بلی دنیا په حالت کې وو دیوال ته تکیه وهلی وه ناست وو دسخت غم او خفګان په وجه یې خبری هم نه سوی کولای دعلی ﷺ داحال وو چې پرلپسی یې ژړل په ژړا ژړا کې بیهوښه سو په عائشه صدیقه ﷺ اونورو ازواج مطهرات باندی چې دغمو اودردو یولوی غر رانړیدلی وو عباس ﷺ خوله ډیره غم حواس له لاس ورکړی وو دعمرفاروق ﷺ حالت بیابل شان وو ډیر دحیرانتیا وړحالت یې وو عمرفاروق ﷺ بیا توره راواخیسته اوودریدی په لوړ آواز یې وویل چې دمنافقینو داګمان دی چې نبی کریم ﷺ وفات سوی دی هغه هیڅکله نه دی وفات سوی بلکې هغه دخپل رب ﷻ وخواته تللی دی لکه څنګه چې موسی ﷺ دطورغره ته الله ﷻ وربللی وو اوبیرته راغلی قسم په الله ﷻ نبی کریم ﷺ به هم دهغه په څیر بیرته راځی اودمنافقینو ریښنی به کاږی عمرفاروق ﷺ توره له تیکی ایستلی وه دهیچادا توان نه وو چې ووایې چې رسول الله ﷺ وفات سو ابوبکرصدیق ﷺ دوفات په وخت کې نه وو ددوشنبی په سهارې نبی کریم ﷺ ولیدی چې نن ښه دی نواجازه یې وغوښته چې یارسول الله ﷺ الحمدلله نن خوته آرام یې که اجازه وی زه به کورته ولاړسم نبی کریم ﷺ وفرمایل اجازه دی ابوبکرصدیق ﷺ دنبی کریم ﷺ څخه اجازه واخیسته اوکورته ولاړی دده کورله مدینی منوری څخه دوه میله لیری وو ابوبکرصدیق ﷺ خوپه خپل کورکې وواودزوال وخت وو چې نبی کریم ﷺ وفات سو ابوبکرصدیق ﷺ چې کله خبرسو نوسمدستی پرآس سپور سو اومدینی منوری ته راورسیدی دمسجدنبوی له دروازی سره له آس کښته سو اوحجری مبارکی ته ورغلی له عائشه صدیقه ﷺ څخه یې اجازه وغوښته اودننه حجری ته داخل سو رسول الله ﷺ په بستره مبارکه باندی وو اوامهات المؤمنین ټولی درسول الله ﷺ شاوخواناستی وی دابوبکرصدیق ﷺ دراتګ په وجه ټولومخونه پټ کړه پرته له عائشه صدیقه ﷺ ابوبکرصدیق ﷺ درسول الله ﷺ له مخ مبارک پټو پورته کې اوتندی مبارک یې مچ کې اووې ژړل اوداسی یې وفرمایل (وانبیاه واخلیلاه واصفیاه) درې ځله یې داعمل وکې کما رواه احمد وغیره کما فی الاتحاف شرح الاحیاء جلد۱۰/ص/۳۰۰)

(۱) فتح الباری جلد ۸ /ص/ ۱۱۴) ——— (۲) اتحاف شرح احیاء العلوم جلد ۱۰ /ص/ ۲۹۷)

سیف لودین کتابتون

وروسته یې وویل زما پلار دی ترتا قربان وی قسم په الله ﷻ الله تعالی پرتا باندی دوه واری (۱) مرګ نه راولی کوم مرګ چی ستا لپاره لیکل سوی وو هغه راغلی دایې وویل اوله حجری مبارکی دباندی راووتی خلک یې ولیدل چی په عمرفاروق ﷛ شاوخوا راټول دی اوعمر ﷛ له ډیره غمه توره له تیکی ایستلی ده دهیچاخبره نه اوری ابوبکرصدیق ﷛ راغلی اووې وویل رسول الله ﷺ وفات سو اې عمره ﷛ آیاتادالله تعالی داقول نه دی اوریدلی (اِنَّکَ مَیِّتٌ وَاِنَّهُمْ مَیِّتُونَ . . وَمَاجَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِکَ الْخُلْد) تردی وینا وروسته خلک دعمرفاروق ﷛ له خوا راغلو او دابوبکرصدیق ﷛ پرشاوخوا راټول سو

دابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه خطبه !

ابوبکرصدیق ﷛ دنبی کریم ﷺ دمنبرخواته راغلی اوپه لوړآواز یې صحابه کرام ﷛ ته وویل څه غلی کښینی ټول صحابه کرام ﷛ کینستل ابوبکرصدیق ﷛ دالله ﷻ حمدا وثناء وویل وروسته یې خطبه ولوسته :

اما بعدمن کان منکم یعبدالله فان الله حی لایموت ومن کان منکم یعبدمحمدا صلی الله علیه وسلم فان محمدا قدمات قال الله تعالی ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ اِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ اَفَإِن مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَيٰ اَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَيٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللهَ شَيْئاً وَسَيَجْزِي اللهُ الشَّاكِرِينَ﴾ (۱۴۴)سورة آل عمران)وقدقال الله تعالی لمحمدصلی الله علیه وسلم . اِنَّکَ مَیِّتٌ وَاِنَّهُمْ مَیِّتُوْنَ وقال الله تعالی کُلُّ شَیْءٍ هَالِکٌ اِلَّا وَجْهَهُ لَهُ الْحُکْمُ وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ وقال الله تعالی کُلُّ مَنْ عَلَیْهَا فَانٍ وَیَبْقٰی وَجْهُ رَبِّکَ ذُوالْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ وقال الله تعالی کُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ، وَاِنَّمَاتُوَفَّوْنَ اُجُوْرَکُمْ یَوْمَ الْقِیَامَةِ وقال ان الله عمّر محمدا صلی الله علیه وسلم وابقاه حتی اقام دین الله واظهر امرالله وبلغ رسالة الله وجاهدفی سبیل الله ثم توفاه الله علی ذلک وقدترکتم علی الطریقة فلن یهلک هالک الامن بعدالبینة .والشفاء فمن کان الله ربه فان الله حی لایموت ومن کان یعبدمحمداً وینزله الهًا فقدهلک الهه فاتقوا الله ایها الناس واعتصموا بدینکم وتوکلوعلی ربکم فان دین الله قائم وان کلمة الله تامة وان الله ناصرمن نصره ومعزدینه وان کتاب الله بین اظهرنا وهوالنور والشفاء وبه هدی الله محمدا صلی الله علیه وسلم وفیه حلال الله وحرامه والله لانبالی من اجلب علینا من خلق الله ان سیوف الله لمسلولة ماوضعناها بعد ولنجاهدن من خالفنا کماجاهدنا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم فلایبغین احدالاعلی نفسه (۲)

دابوبکرصدیق ﷛ هدف په هغه خلکوباندی ردوو چی ویل یې نبی کریم ﷺ به دویم ځل بیرته راژوندی کیږی اودمنافقینولاسونه پښی به پریکوی څکه که داسی وی نودنبی کریم ﷺ وفات اومرګ دوه ځله کیږی په دی وجه ابوبکرصدیق ﷛ وویل چی کوم مرګ ستالپاره لیکل سوی وو هغه راغلی تردی وروسته به په دیناکې دویم ځل مرګ تاته نه راځی اوالله تعالی به په تاباندی دوه مرګونه نه راولی لکه چی په مخکې امتوکې بنی اسرائیلوخلک دمرګ له ویری له کوروڅخه وتلی وو او یوځای ته چی ورسیدل دالله ﷻ په غضب سره مړه سو بیاد خپل نبی ﷺ په دعاسره بیرته راژوندی سو اوبیاپه خپل وخت باندی دویم ځل بیرته مړه سو هغه خلکوته الله تعالی په دنیاکې دوه واری مرګ راوستی ددوئ قصه په ﴿اَلَمْ تَرَ إِلَي الَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَارِهِمْ وَهُمْ اُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللهُ مُوتُواْ ثُمَّ اَحْيَاهُمْ (۲۴۳)آیت سورة البقرة)کې ذکرسوی ده اولکه چی یوبل سړی ته دوه ځلی مرګ راغلی دی هغه په یوه کلی تیریدی اوالله تعالی هغه وفات کی اوسل کاله وروسته یې بیرته راژوندی کې چی دهغه قصه په﴿اَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَي قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَي عُرُوشِهَا قَالَ اَنَّي يُحْيِي هَـٰذِهِ اللهُ بَعْدَ مَوْتِهَا فَاَمَاتَهُ اللهُ مِئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ(۲۵۹آیت سورة البقرة) کې ذکرسوی دی خلاصه دخبری داسوه چی لکه څنګه چی هغه خلک په دنیاکې دوه ځلی مړه سوی دی الله تعالی په خپل نبی باندی دوه ځلی مرګ نه راولی ددې حدیث شریف په وضاحت کې نوراقوال هم سته دتفصیل لپاره فتح الباری جلد ۳ /ص/ ۹۱ کتاب الجنائز اوزرقانی شرح مواهب جلد ۸ /ص/ ۲۷۸ اومدارج النبوة جلد ۸ /ص/ ۵۵۸ تقطیع خود وګوری اوشرح قسطلانی جلد ۲ /ص/ ۳۴۱ ... (۲) البدایه والنهایه جلد ۵ /ص/ ۲۴۳، زرقانی جلد ۸ /ص/ ۳۸۰)

سیف لودین کتابتون

ژباړه: په تاسوکې چې چادالله ﷻ عبادت کوی نوپوه سی چې رښتیاهم الله عزوجل ژوندی
دی اوپه هغه باندی مرګ نه سی راتلای اوکه بالفرض چادمحمدصلی الله علیه وسلم
عبادت کوی نوپوه سی چې محمدصلی الله علیه وسلم وفات سو الله تعالی فرمایي چې نه
دی محمد ﷺ مګردالله رسول ﷺ دی چې ترده مخکې هم ډیر رسولان تیرسوی دی نوکه هغه
وفات سی یاشهیدسی نوآیاتاسوبه له دین اسلام څخه بیرته اوړی اوڅوک چې له اسلام
بیرته واوړی هغه الله ﷻ ته یوه ذره زیان هم نه سی رسولای اوخامخابه الله تعالی
شکرکښونکوته بدله ورکوی اوالله تعالی خپل نبی ؑ ته ویلی دی چې بیشکه ته
مړکیدونکي یې اوداټول خلک هم مړه کیږی داټول شیان نیستی کیدونکي دی یوائې
دالله ﷻ ذات به پاته کیږی هرنفس دمرګ څکونکي دی اودقیامت په ورځ به ټولو ته
دخپلوعملوپوره بدله ورکول کیږی اوابوبکرصدیق ؓ وویل چې الله تعالی دخپل نبی
عمر اوږد کی اوهغه یې ترداسی وخته ژوندی پریښودی چې دالله تعالی دین یې قائم کې
اودالله تعالی حکمونه یې بیان کړه اودالله تعالی پیغام یې ورسوی اودالله ﷻ په لاره کې
جهادوکي بیاالله تعالی هغه خپل ځان ته وروغوښتی وفات یې کی اورسول الله ﷺ تاسو په
نیغه سیده اوپاکه لاره پریښودلاست اوس چې څوک ګمراه اوهلاک کیږی نوهغه به دحق
دښکاره کیدو وروسته بیرته ګمراه کیږی نوالله تعالی چې دچارب ﷻ وی نوپوه دی شی
چې الله ﷻ ژوندی دی هغه ته هیڅکله مرګ نه راځی اوچاچې دمحمدصلی الله علیه وسلم
عبادت کوی اوهغه الله ګڼی نوپوه دی سی چې دهغه معبودوفات سو اې خلکو دالله ﷻ
څخه وویریږی اودالله ﷻ ددین رسۍ ټینګه ونیسی اوپه خپل رب باندی توکل وکړی
رښتیاهم الله تعالی به دین قائم اودائم ګرزوی اودالله عزوجل وعده به پوره کیږی اوالله ﷻ
دهغه سړی مرسته کوی څوک چې دهغه ددین مرسته وکړی اوالله ﷻ به خپل دین ته عزت
اوغلبه ورکوی اودالله ﷻ کتاب زموږ په مینځ کې شته اوهمدارڼا اوسمه لاراودزړه دواده
ددې په ذریعه الله تعالی محمدصلی الله علیه وسلم ته لاره وښوده اوپه دی کې دالله تعالی
حلال اوحرام شیان ذکرسوی دی قسم په الله عزوجل موږدهغه چایوه ذره پروانه کوو چې په
موږباندی حمله کوی (باغیانواومرتدینوته اشاره وه) رښتیاهم دالله ﷻ توری چې زموږ په
لاسوکې دی هغه دالله ﷻ په دښمنانوباندی پورته کولای سو هغه توری موږتراوسه له
خپلولاسوڅخه نه دی ایښی اوقسم په الله ﷻ موږبه له خپلودښمنانوسره اوس هم هغه
رنګه جهادکوو څنګه چې مودنبی کریم ﷺ په ملګرتیاکې کوی نودښمنان دې په دې پوه
سی اوپرخپلوځانودی ظلم نه کوی ..

سیف لودین کتابتون

ابوبکرصدیق رضی الله عنه چې کله داآیتونه ولوستل په یوه ځل دحیرت حالت پورته سو اودناخبری پردی له سترګولیری سوی اودټولو دایقین سو چې محمدصلی الله علیه وسلم وفات سوی دی په دغه وخت کې حالت داسې ووچې ګواکې صحابه کرامو رضی الله عنهم تردی مخکې داآیتونه بیخی اوریدلی نه وو په همدې حالت کې به یې داآیتونه له ځان سره تلاوت کول (زرقانی اوطبقات ابن سعد)

عمرفاروق رضی الله عنه فرمایي چې زماهم همدغه حالت وو دافکرمی کوی چې داآیتونه ماتراوسه نه دی لوستلي بیرته می خپل ځان ته فکروکې اوڅه په هوش کې سوم (۱)

شاه ولی الله قدس سره وایې چې عمرفاروق رضی الله عنه ښه پوهیدی چې په نبی کریم ﷺ باندی به یوه ورځ خامخامرګ راځی مګر دهغه داګمان وو چې داکوم صورت حال چې پیښ سوی دی دامرګ نه دی بلکې دهغه داګمان وو چې دادباطنی مشغولتیاپه بناء باندی یوائې ظاهری حواسوکارپری ایښې دی لکه چې نبی کریم ﷺ ته به دوحی په حالت کې پیښیدی دابوبکرصدیق رضی الله عنه په خطبه سره دعمرفاروق رضی الله عنه داخیال پای ته ورسیدی اوحقیقت حال په هغه ته ښکاره سو اوله خپله فکره یې رجوع وکړه لکه چې دابیان په قرة العین صفحه ۲۷۰ کې راغلی دی ،، په داسې نازک حالت اوحیرانونکې پیښې داسې ثابت قدمی اوداسې استقلال دابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه لوړکمال اوغوره والی دی

اوپه یوروایت کې راغلی دی (۲) چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه چې کله درسول الله ﷺ له وفات خبرسو نوسمدستی له خپله کوره چې دسخ نامه ځای کې وو راروان سو اوکیفیت یې داسې وو چې ترسترګویې اوښکې روانی وی اواسویلی په سینه کې بندبندکیدی اودسینی څخه یې داسې اوبه بهیدلی لکه دمنګی داوبوپه شان په داسې حالت کې یې صلوة اوسلام لوستی اوحجری مبارک ته داخل سو خوسره له دې ډیره غم اوخفګان دده په عقل اوخبروکې یوه ذره زیان اوتوپیرنه راغلی دنبی کریم ﷺ مخ مبارک یې ښکاره کې اوتندی مبارک یې مچ کې اوپرلپسی یې ژړل اودابه یې ویل چې زمامور اوپلاردی په تاقربان سی ته په ژونداومرګ دواړه حالتوکې پاک اوښه یې ستاپه مرګ سره وحی اونبوت بندسو چې دبل نبی په مرګ سره نه ووبندسوی ته ترستایلوډیرلوړیې اوله

(۱) تفسیر قرطبی جلد ۴/ص/۲۲۳)

(۲) وفی روایة کان ابابکر رضی الله عنه لما بلغه الخبر وهو بالسخ جاء وعیناه تفیضان وزفارته تردد فی صدره وغصصه ترتفع کقطع الجرة وهو فی ذلک جلد العقل والمقالة رأی ثابت العقل والقول حتی دخل علی رسول الله صلی الله علیه وسلم فاکب علیه وکشف وجهه ومسحه وقبل جبینه وجعل یبکی ویقول بابی انت وامی طبت حیا ومیتا وانقطع لموتک مالم ینقطع لموت احد من الانبیاء من النبوة فعظمت عن الصفة وجللت عن البکاء وخصصت حتی صرت مسلاة وعمت حتی صرنا فیک سواء ولولا ان موتک کان اختیارا منک لجدنا لموتک بالنفوس ولولا انک نهیت عن البکاء لانفذنا علیک ماء الشئون فامالانستطیع نفیه فکمد وادناف یتحالفان لایبرحان اللهم ابلغه عنا واذکره الغزالی فی الاحیاء وقال [illegible] کذا فی الاتحاف جلد۱۰/ص/۲۹۹)

سیف لودین کتابتون

ژړا اوزاریو بې پرواه یې ستاذات په دې اعتبارسره خاص دی چې ستاپه وفات سره خلک تسلي حاصله کړي اوته پوه وې چې موږټول ستاپه غم اوخفګان کې یوشان یو که ستامرګ ستاپه خوښه نه وی (ځکه الله تعالی خوتاته اختیاردرکړی وو) خوتاخپله دآخرت خوښ کړنوموږبه ستادمرګ لپاره خپل ځانونه قربان کړي وو اوکه تاموږله ژړا څخه نه وای منع کړی نوموږبه پرتاباندې دخپلوسترګواوبه ختمې کړي وې مګردوه شیان داسې دي چې دهغه اړول اوختمول زموږپه واک کې نسته یودجدائی غم اوبل په غم کې دبدن خواریدل اوکمزروی دادواړه شیان دیوبل سره ملګري اودوستان دي یوله بله نه بیلیږي اې الله ﷻ زموږداحال زموږنبي ﷺ ته ورسوی اواې محمدصلی الله علیه وسلم موږدالله ﷻ په دربارکې یادکړه هیله ده چې موږبه په زړه کې یادلرې که تازموږپه زړوکې په خپل مجلس اوملګرتیاسره ډاډاوآرام نه وای پرې ایښی نوموږبه د جدایې غم چې تاپه موږکې پریښودی هیڅیری نه وو زغملی ،، بیاابوبکرصدیق رضی الله عنه له حجرې راووتی اودخلکودتسلي لپاره یې په ولاړه خطبه ولوسته چې دهغه خطبه زیاته برخه په صلوة اوسلام باندې مشتمل وه اوهغه په خطبه کې داسې وفرمایل

دابوبکرصدیق رضی الله تعالی دویمه خطبه ! (۱)

اَشْهَدُ اَنْ لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ وَصَدَقَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَغَلَبَ الْاَحْزَابَ وَحْدَهُ فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ وَحْدَهُ . واشهدانّ مُحمداً عبده ورسوله وخاتم انبیائه واشهدان الکتاب کمانزل وان الدین کماشرع وان الحدیث کماحدث وان القول کماقال وان الله هوالحق المبین(۲) اللهم صل علی علی محمدعبدک ورسولک ونبیک وحبیبک وامینک وخیرتک وصفوتک بافضل ماصلیت به علی احدمن خلقک اللهم اجعل صلواتک ومعافاتک ورحمتک وبرکاتک علی سیدالمرسلین وخاتم النبیین وامام المتقین محمدقائدالخیروامام الخیرورسول الرحمة اللهم قرب زلفه وعظم برهانه وکرم مقامه وابعثه مقام محمودا یغبطه به الاولون والاخرون وانفعنا بمقامه المحمودیوم القیامة واخلفه فینافی الدنیا والاخرة وبلغه الدرجة والوسیلة من الجنة اللهم صل علی محمدوعلی آل محمدوبارک علی محمدکماصلیت وبارکت علی ابراهیم انک حمیدمجید(۳) ثم قال ایهاالناس من کان یعبدمحمدا فان محمداقدمات من کان یعبدالله فان الله حی لایموت وان الله قدتقدم لکم فی امره فلاتدعوه جزعاً وان الله تبارک وتعالی قداختارلنبیه علیه السلام ماعنده علی ماعندکم وقبضه الی ثوابه وخلف فیکم کتابه وسنت نبیه فمن اخذبهما عرف ومن فرق بینهماانکر ، یاایها الذین آمنوا کونوا قوامین بالقسط ولایشغلنکم الشیطان بموت نبیکم ولایفتنکم عن دینکم وعاجلوا الشیطان بالخیروتعجزوه ولاتستنظروه فیلحق بکم ویفتنکم (۴)فلمافرغ من خطبته قال یاعمر رضی الله عنه انت الذی بلغنی

---

(۱) دادتیری خطبې برخه ده چې یوائې په روض الانف کې ذکرسوی ده اومخکې برخه په روض الانف اواحیاء العلوم دواړوکې ذکرسوی ده ځکه ددې پرپای باندې ددواړکتابو حواله ورکړل سوی ده اوس دروایت هغه پاتې برخه ذکرکیږي چې یوائې په روض الانف کې ذکرسوی ده هغه داسې ده (فلولاماخلفت من السکینة لم نقم من الوحشة اللهم ابلغ نبیک عنا واحفظه فینا ثم خرج لماقضی الناس عراتهم وقام خطیبا فیهم بخطبة جلها الصلاة علی النبی ﷺ وقال فیها اشهدان لااله الاالله وحده لاشریک له.. الی آخرالخطبة (روض الانف جلد۲/ص/۲۷۶)

(۲) تردې ځایه چې کومه خطبه ده هغه په اتحاف شرح احیاء العلوم کې ذکرسوی ده علامه زبیدی داخطبه داسې نقل کوی (رواه بطوله سیف بن عمرالتمیمی فی کتاب الفتوح عن عمرو بن تمام عن ابیه عن القعقاع قال ابن ابی حاتم سیف بن عمرالتمیمی متروک واخرجه ابن السکن من طریق ابراهیم بن سعدعن سیف بن عمرعن عمروعن ابیه وقال سیف بن عمرضعیف قلت هومن رجال الترمذی وهووان کان ضعیفافی الحدیث عمدة فی التاریخ مقبول النقل کذافی الاتحاف جلد۱۰/ص/۳۰۲)

(۳) تردې ځایه خطبه له اتحاف رااخیستل سوی ده مګرپرته له دردوشریف دخطبې ځه اجزاء په روض الانف جلد۲/ص/۲۷۶کې هم ذکرسوی دی تردې وروسته یعنی (ثم قال ایهاالناس من کان یعبدالخ ترولاتستنظره فیلحق بکم پورې خطبه په شرح

سیف لودین کتابتون

عنک انک تقول علی باب نبی الله ﷺ والذی نفس عمر ﷺ بیده ما مات نبی الله اما علمت ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال یوم کذا وکذا وقال الله عز وجل فی کتابه (انک میت وانهم میتون) فقال عمر والله لکأنی لم اسمع بهافی کتاب الله تعالی قبل الآن اشهد ان الکتاب کما نزل وان الحدیث کما حدث وان الله تبارک وتعالی حی لایموت انالله وانا الیه راجعون صلوت الله علی رسوله وعندالله فنحتسب رسوله (الروض الانف جلد۲/ص/۳۰۶)

ژباړه: زه شاهدي ورکوم چې له الله ﷻ پرته بل هیڅوک دبندګۍ وړ نسته او الله ﷻ چې له خپل نبی ﷺ سره کومه وعده کړې وه هغه یې رښتینې کړه هغه دخپل غوره بنده مرسته وکړه او کافرانو ته یې ماته ورکړه بیا حمدا وثنا هغه ذات لره دي چې یودی شریک نه لري او زه شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ دالله ﷻ بنده اورسول ﷺ او آخري نبی ﷺ دی او زه شاهدي ورکوم چې دالله ﷻ کتاب یعني قرآن کریم هغه رنګه موجوددی لکه څنګه چې نازل سوی دی اودین په هغه رقم دی لکه څنګه چې مشروع سوی دی اوحدیث هغه رنګه دی لکه څنګه چې دنبی کریم ﷺ له ژبې مبارک څخه راوتلی وو اوخبره هم هغه خبره ده لکه څنګه چې نبی کریم ﷺ فرمایلي وو اوالله تعالی حق دی ادحق ښکاره کونکی دی ، اې الله ﷻ ته خپل خاص رحمتونه په محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل کړې چې ستا ځانګړی غوره بنده اورسول اونبی اوحبیب اوآمین اوغوره دمخلوقاتودی اوخلاصه دمخلوقاتو دی ﷺ په هغه باندې داسې رحمتونه اوسلامتیا نازل کړه چې تا په خپل خاص دوست باندې نازل کړې وي اواې الله ﷻ خپل رحمتونه اوسلامتیا اوبرکتونه پرسردار درسولانو اوپرخاتم الانبیاء علیهم السلام اودپرهیزګارانو پرسردار اوامیر باندې نازل کړې امیر دخیر اوپیشوی دخیر اورسول درحمت دی اې الله ﷻ دهغه نژدیکت نورهم زیات کړې اودهغه دلیل اوبرهان غښت کړې اوهغه ځای ستایل سوی چې دشفاعت ځای دی هغه ته یې لوړ کې چې په هغه باندې به ټول لومړي اوآخري غبطه کوي اودقیامت په ورځ موږ ته دهغه دشفاعت له ځایه برخه راکړې اوپه دنیاکې اوآخرت کې ته زموږ لپاره دهغه په بدل کې لوړې درجې راکړې اوهغه ته په جنت کې لوړې درجې ورپه برخه کړې اې الله ﷻ په محمد ﷺ اودهغه په کورني باندې خپل ځانګړې رحمتونه اوبرکتونه نازل کړې لکه چې ستا ځانګړې رحمتونه اوبرکتونه تا نازل کړې وو په ابراهیم ﷺ اودده په کورنۍ باندې رښتیا هم ته ستایل سوی اوعزتمندیې بیاابوبکر صدیق ﷺ وویل اې خلکو چاچې دمحمد ﷺ عبادت کوي نوپوه دې سي چې محمد صلی الله علیه وسلم وفات سو اوچاچې دالله ﷻ عبادت کوي نو الله ﷻ ژوندی دی هغه ته مرګ نه سي راتلای اوالله تعالی دنبی کریم ﷺ دوفات په هکله مخکې تاسو ته فرمایلي دی نوتاسو په دې کې جګړه مه کوی اوالله تعالی دخپل نبی ﷺ لپاره ستاسوپرځای خپل نژدیکت غوره کې اودعزت خواته یې هغه غوره ....ستاسو دلاره ....لپاره خپل کتاب اودخپل نبی ﷺ

سيف لودين کتابتون

طريقه پريښوده هرچاچې کتاب اوسنت دواړه مضبوط ونيول نوهغه حق ته ورسيدی اوچاچې په کتاب اوسنت کې بيلوالی راوستی مثلاً قرآن يې ومنی اوسنت يې پريښودل نوهغه له حق مخ واړوی اې مؤمنانوپه حق اوانصاف ټينګ ودريږی اوشيطان لعين ته وخت مه ورکوی چې دنبی کريم ﷺ دمرګ په وجه تاسوله دين واړوی دشيطان په فتنه کې تراخته کيدو له مخه دخيرخواته تلوار کوی دومره وخت شيطان ته مه ورکوی چې هغه راسی اوله تاسوسره يوځای سی اوتاسوپه کومه فتنه کې اخته کړی ،، ابوبکرصديق ؓ چې کله له خطبی خلاص سو نوعمرفاروق ؓ ته يې مخ واړوی ورته وې ويل اې عمر ؓ ته هغه څوک يې چې ماته خبرراسيدلی دی چې دنبی کريم ﷺ په دروازه ولاړوی اوويل دی چې دالله ﷻ پيغمبر ﷺ نه دی مړ کيږی آياته په دې نه يې خبر چې نبی کريم ﷺ دخپل مرګ په اړه په فلانی ورځ په فلانی وخت داسی وفرمايل اوالله تعالی په خپل کتاب کې فرمايي (انک ميت وانهم ميتون) عمرفاروق ؓ وايي چې زماحالت داسی سو ګواکې ماداآيت تردی مخکې په کتاب الله کې اوريدلی نه وو ماوويل زه شاهدی ورکوم چې قرآن هغه رنګه دی لکه څنګه چې نازل سوی دی اوحديث هم هغه شان دی لکه څنګه چې ويل سوی دی اوالله تعالی تل هميشه ژوندی دی په هغه مرګ نه راځي اناالله وانااليه راجعون دالله عزوجل رحتمونه دی وی دهغه په رسول ﷺ باندی اوموږ دالله ﷻ څخه اميدلرو چې موږ ته ددې غم بدله راکړی ..آمين ثم آمين ثم آمين)

دبنوساعده په سقيفه کې دانصارو ؓ راغونډيدل !

له بل لوری داسی دحيرانتياخبرراورسيدی چې دبنوساعده په سقيفه کې انصار ؓ راغونډ سوی دی اودنبی کريم ﷺ دخلافت مسئله رامنځ ته سوی ده مهاجرينو ؓ ابوبکرصديق ؓ ته وويل چې ته هم سقيفه ته ورسه موږ هم له تاسره ځوابوبکرصديق ؓ اوعمرفاروق ؓ دمهاجرينو ؓ سره يوځای سقيفه ته ولاړل تفصيلی قصه به ان شاء الله وروسته راسی اوس داخبره يادوو چې دوئ ولی دنبی کريم ﷺ ترتجهيزاوتکفين مخکې ولاړل ځکه ابوبکرصديق ؓ اوعمرفاروق ؓ پردې وويريدل چې هسی نه چې په تلوارسره له چاسره بيعت وسی اوهغه دفتنی راولاړولوسبب سی اودمسلمانانولپاره يوغم جوړسی کله چې دامسئله حل سوه اوډېرولوپه اتفاق سره دمهاجرين اوانصارو ؓ ابوبکرصديق ؓ درسول الله ﷺ خليفه وټاکل سو نوپه بله ورځ يې دنبی کريم ﷺ تجهيزاوتکفين وکړل په سقيفه کې دراغونډيدو پېښه ددوشنبی په ماښام وسوه دنبی کريم ﷺ دوفات خبرددوشنبی په ورځ زوال ته نژدی وسو ترهغه وروسته ابوبکرصديق ؓ دسخ په نامه له ځايه راغلی اوخطبه يې ولوسته په همدې غمجن حالت کې ماښام سو کله چې ماښام دوئ ته

سيف لودين كتابتون

کې راغونډ سوي وو ابوبکر صدیق ؓ او عمر فاروق ؓ د انصارو د راغونډیدو د خبر په اوریدو سره سقیفه ته ولاړل دوئ په دې فکر کې وو چې رسول الله ﷺ خو وفات سو او له اسمان نوره وحی نه راځی او نبی کریم ﷺ به موږ له راتلونکو فتنو و یرولو هسی نه چې اوس په امت کې بیلوالی او ډلی ډلبازی پیل سی او په دې فتنه سره به هرومرو اسلامی نظام نړیږی او د درویشت کالو په نبوت کې چې کوم اسلامی نظام جوړ سوی دی خدانخواسته هغه په کورنۍ اختلاف ونه نړیږی او امت سره ډلی ډلی نه سی چې د هغه را یوځای کیدل بیا ډیر ستونزمن کار دی

که یو پاچا مړ سی نو تر څو پوری چې د هغه نائب نه وی ټاکل سوی تر هغه وخت پوری د هغه نظام نه پاته کیږی په دې مهم وخت کې د کفن او غسل او نور مسائل دومره مهم نه وی لکه څومره چې د نائب او خلیفه مسئله مهمه وی د حکومت خیرغوښتونکی په دې فکر کې وی چې د هیواد په نظام کې څه زیان رانه سی دښمن وخت پیدا نه کړی او پر هیواد ناڅاپی بریدونه کړی او په ناخبری کې بریدونه کړی چې په دې سره د ټول هیواد بربادی راځی بلکې ډیر ځله د مصلحت له لاری د پاچا د مړینی خبر پټوی او د خلیفه له ټاکلو وروسته د پاچا د مړینی اعلان کوی لکه اوس هم د شیعه ګانو په حکومتو کې دا قانون دی او که پاچا له مړینی وروسته په هیواد کې دوه پاچهان وټاکل سی نو هغه هیواد به خامخا بربادیږی په یوه حکومت کې دوه پاچهان د هیواد د خرابی او بربادی لامل دی ،

او د نبی کریم ﷺ له وفات وروسته د منافقینو او کفارو څخه دا ویره وه چې شر او شور جوړ نه کړی په داسی وخت کې د اسلام د یوځای والی ساتنه لومړنی کار وو ځکه شیخین رضی الله تعالی عنهما ابوبکر صدیق ؓ او عمر فاروق ؓ دا خوښه کړه چې تجهیز او تکفین خو کوم ستونزمن کار نه دی او د کورنۍ له خلکو سره اړه لری د ټول صحابه کرام ؓ په هغه کې ګډون لازمی نه دی د اهل بیت مریان هم دا خذمت کولای سی او نبی کریم ﷺ چې په دې درویشت کاله کې کوم غمونه او تکلیفونه د اسلام د سرلوړی او د کفر د سپکاوی لپاره وړی دی اوس به هغه له لاسه ووزی ځکه اوس نبی کریم ﷺ له دی فانی کوره آباد کور ته سفر کړی دی اوس که د هغو لاس ته راوړنو لپاره کوم لائق او وړ سړی ونه ټاکل سی نو داویره ده چې د سترګو په رپ کې به اسلامی نظام ونړیږی او د درویشت کالو تکلیفونه او خواری، او غزاګانی او سریه او دعوت او تبلیغ کې چې کوم تکلیفونه او ستونزی تیری سوی دی هغه به ټولی بی معنی سی او له سره به بیرته د کفر او شرک بیرغ پورته سی او شیطان علیه اللعنة به بیا د مخکې په څیر خلک په خپله لاره روان کړی او نبوت خو پر نبی کریم ﷺ باندی پای ته رسیدلی دی نو که بیا دغه رنګه تیاره په دنیا کې خپره سی نو بیا به له کومه ځایه د هدایت لمر راخیژی په دې وجه ابوبکر صدیق ؓ او عمر فاروق ؓ دا پریکړه

سیف لودین کتابتون

وکړه چې دنبی کریم ﷺ خلیفه بایدوټاکل سی ددې لپاره چې داسلامی نظام چاری جاری وی اوداسلامی نظام خبره هم هغه رنګه جوړه وی اوهیڅ یوه منافق اوداسلام دښمن ته بایدوخت ورنه کول سی چې سرراپورته کړی اوپه دې کې دټول امت صلاح اوکامیابی دي ابوبکرصدیق ؓ اوعمرفاروق ؓ ته داهل بیت په شتون کې دتجهیزاوتکفین اړتیانه وه اوبل داچې ټولوصحابه کرام ؓ ته دامعلوه چې د انبیاء علیهم السلام په بدن کې په مرګ سره تغیرنه راځي نوکه تجهیزاوتکفین وځنډیږی هیڅ ویره نسته اوپه ډیره هوښیارتیاسره یې دفتنی اوفسادمخه ونیوله اومسلمانان یې له بیلوالی وساتل تجهیزاوتکفین کې څه ځنډوسی نوڅه بدی نسته اوکه داسلام ریاست دلږوخت لپاره ونړیږی نو بیابه تجهیز اوتکفین هم په سمه توګه سرته ونه رسول سی لکه څنګه چې انصار ؓ ودي ته تیارسوی وو چې یومشردی ددوئ څخه وی اویودی له مهاجرینو ؓ څخه اودایوه لویه فتنه وه په یوه هیوادکې دوه پاچهان دهغه هیوادډبربادي لامل جوړیږی ځکه ابوبکرصدیق ؓ اوعمرفاروق ؓ ودې خبری ته ځانګړی توجه وکړه اوکله چې دخلافت مسئله حل سوه نوبیاپه پوره ډاډاوآرام سره په تجهیزاوتکفین بوخت سو (رضی الله عنهم وجزاهم من الاسلام والمسلمین خیرا آمین ثم آمین یارب العالمین) ابوبکرصدیق ؓ خوسقیفه ته دفتنی دختمولولپاره تللی وو مګر دتقدیرپه پریکړه هیڅوک نهووخبر چې صحابه کرام ؓ به ټول پرابوبکرصدیق ؓ اتفاق کوی دصحابه کرام رضي الله عنهم چې کله په ابوبکرصدیق رضي الله عنه سترګې ولګیدی ټولو په ډیره خوښی اوزورسره هغه خلیفه کې تباه سی اې شیعه ګانوپه دې کې دابوبکرصدیق ؓ څه تاوان وو هغه بیچاره خوډیری هڅې وکړی خوصحابه کرام ؓ ټولوپه اتفاق سره دارایه تصویب کړه چې له ابوبکرصدیق ؓ پرته بل څوک نه وو ابوبکرصدیق ؓ خودخپل خلافت وهم اوګمان هم په زړه کې نه وو یوائې ددې فتنې دپای ته رسولوپه خاطرهغه تللی وو هغه په دې څه خبروو چې خلافت به زماپه غاړه کې اچول کیږی (وَذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ)

دنبي کریم صلي الله علیه وسلم د جنازی اوکفن اوغسل بیان !

لهابوبکرصدیق ؓ سره تربیعت وروسته صحابه کرام ؓ دنبی کریم ﷺ په کفن ورکولوبوخت سو کله چې یې دغسل نیت وکې نوداخبره وسوه چې جامی دی ځنې وایستل سی اوکه نه دوئ لا په همدې خبروبوخت ووچې پرټولوباندی یوقسم سکون اوډاډراغلي اویوغیبی آواز وسو چې مه یې لوڅوی په جاموکې غسل ورکی ، وروسته نبی کریم ﷺ ته له قمیص سره غسل ورکول سو اووروسته بیاهغه ځنې وایستل سو علی کرم الله وجهه غسل ورکوی اوعباس ؓ اودهغه دواړو زامنوفضل ؓ اوقثم ؓ پربغل مبارک

سیف لودین کتابتون

اړوی اواسامه ﷺ اوشقران ﷺ اوبه ورتویولی (۱)
له غسل ورکولو وروسته دسحول څخه جوړی سوی دروسپینو جامو کې نبی کریم ﷺ ته کفن ورکړل سو په دې کې قمیص اوپګړی نه وه اوهغه قمیص چی په هغه کې غسل ورکول سوی وو هغه څنی وایستل سو (۲)

دکفن ورکولو څخه وروسته داخبره وسوه چی نبی کریم ﷺ بایدچیری ښخ کړل سی ابوبکرصدیق ﷺ وویل ماله رسول الله ﷺ څخه اوریدلی دی چی فرمایل یې چی پیغمبر ﷺ به په هغه ځای کې ښخیږی په کوم ځای کې چی دده روح قبض سی.(رواه الترمذی وابن ماجه)

سمدستی دنبی کریم ﷺ له ځایه بستره لیری سوه اودقبرکیندل پیل سو مګر په دې کې اختلاف پیښ سو چی څنګه قبروکیندل سی مهاجرینو ﷺ وویل دمکی درواج برابر دی بغلی قبر وکیندل سی اوانصارو ﷺ وویل چی دمدینی درواج په څیر دې لحدتیارسی، ابوعبیده ﷺ په بغلی قبراوابوطلحه ﷺ دلحدپه کیندلو کې ماهره وو دوئ داپریکړه وکړه چی په دوئ دواړوپسی به څوک ولیږو هریوچی مخکې راورسیږی هغه رقم قبردی وکیندل سی ابوطلحه ﷺ مخکې راورسیدی اودنبی کریم ﷺ لپاره یې لحدتیارکي (۳) اوقبرداوښ دبوک په شکل جوړسو لکه چی په بخاری شریف کې راغلی دی.

ف:. دهرنبی ﷺ دښخیدلو ځای دهغه دوفات ځای کیدومطلب دادی چی ښه خبره داده چی په هغه ځای کې ښخ سی اوکه دڅه ستونزی له کبله په بل ځای کې ښخ سی نوداییله خبره ده.

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دجنازی لمونځ!

په سنن ابن ماجه کې له عبدالله ابن عباس ﷺ څخه روایت سوی دی چی دچهارشنبی په ورځ چی کله دنبی کریم ﷺ تجهیزاوتکفین وسو نوجنازه شریفه دقبرپرغاړه کیښودل سوه یوه یوه ډله به حجری شریفی ته راتله اویوائی یوائی به یې لمونځ کوی اوبیرته به راوتل هیچابه دبل چاامامت نه کوی بیل بیل به پرته له امام لمونځ کیدی اوبیرته به راتلل په شمائل ترمذی کې روایت سوی دی چی خلکوداابوبکرصدیق ﷺ څخه وپوښتل چی آیادرسول الله ﷺ دجنازی لمونځ دی وسی ابوبکرصدیق ﷺ وویل هو دجنازی لمونځ دی وسی خلکوویل څنګه ابوبکرصدیق ﷺ وویل دخلکویوه یوه ډله دې حجری ته ورسی اوتکبیردی ووایې بیادې درود اودعاء ووایې اودباندی دې راووزی بیادې دویمه ډله داخله سی اوهغه رقم دی تکبیرووایې اوبیادې درود ووایې اوبیادی دعاء وکړی اودباندی دې راووزی

(۱) البدایه والنهایه جلد ۵ /ص/ ۲۶۰)
(۲) اتحاف شرح احیاء العلوم جلد ۱۰ /ص / ۳۰۴)
(۳) زرقانی جلد ۸ /ص / ۲۸۹، ۲۹۲، طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص / ۵۹)

سیف لودین کتابتون

په همدې ترتیب سره صحابه کرام ؓ دجنازې لمونځ اداکې ، قاضي عیاض وایې چې سمه خبره داده چې پرنبي کریم ﷺ رښتیاهم دجنازې لمونځ سوی دی اوهمدادجمهوردرو مسلک اوطریقه ده انتهی کلامه اودامام شافعي په کتاب الام کې بیان سوی دی چې په نبي کریم ﷺ باندې دجنازې لمونځ سوی دی

اویوشمیربیاوایې چې په نبي کریم ﷺ باندې دجنازې لمونځ نه دی سوی بلکې خلک به حجرې مبارکې ته ډله ډله ورتلل اوصلوة اوسلام اودعاء به یې لوستله اوبیرته به دباندې راوتل ، دابن سعدپه روایت کې راغلي دي چې ابوبکرصدیق ؓ اوعمرفاروق ؓ له یوې ډلې سره دنبي کریم ﷺ حجرې ته داخل سو اودنبي کریم ﷺ دجنازې مخ ته ودریدل اودادعاء یې وکړه

السلام علیک ایها النبی ورحمة الله اللهم انا نشهد انه قد بلغ ما انزل الیه ونصح لامته وجاهد فی سبیل الله حتی اعزالله دینه وتمت کلمته فاجعلنا یاالهنا ممن یتبع القول للذی انزل معه واجمع بیننا وبینه حتی یعرفنا ونعرفه فانه کان بالمؤمنین رؤفا رحیما لانبتغی بالایمان بدلا ولانشتری به ثمناً)

ژباړه : سلام دی وې پرتاباندې اې دالله ﷻ نبي ﷺ اودهغه رحمتونه اوبرکتونه دې وي پرتاباندې اې الله ﷻ موږ شاهدي ورکووچې رسول الله ﷺ هغه ټول څه ورسول کوم چې په هغه باندې نازل سوي وو اوهغه دامت خیرغوښتنه وکړه اودالله ﷻ په لاره کې یې جهادوکې ترداسې وخت چې الله تعالی خپل دین غالب کې اودهغه خبره لوړه سوه اې الله ﷻ موږ له هغوخلکوڅخه وګرزوې چې ستادوحې تابعداري کوي اوموږ دنبي کریم ﷺ سره یوځای کړه اوموږ هغه وپیژني اوموږدیٔ وپیژنو رښتیاهم نبي کریم ﷺ په مسلمانانو ډیرمهربان وو موږ دخپل ایمان هیڅ بدل اوقیمت نه اخلو خلکوآمین وویل کله چې خلاص سو نوښځو اوترښځو وروسته ماشومانو هم دغه رنګه عمل وکړی ..

تنبیه : په دې روایت کې ښکاره دابوبکرصدیق ؓ اوعمرفاروق ؓ دجنازې دلمانځه یادونه سوې ده اوداخبره ډیره قطعي اوپه تواترثابته ده نودشیعه ګانو داخبره چې خلفاء ثلاثه درسول الله ﷺ په جنازه کې نه دي شریک سوي ښکاره دروغ دي اودعقل اونقل خلاف دي چې خلفاء ثلاثه دنبي کریم ﷺ په جنازه کې نه دي شریک سوي

په مسندبزار اومستدرک دحاکم کې راغلي دي چې نبي کریم ﷺ دناروغۍ په وخت کې اهل بیت دعائشې کوټې ته راوغوښتل اهل بیت پوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ ستادجنازې لمونځ به څوک کوي نبي کریم ﷺ وفرمایل کله چې زمادتجهیزاوتکفین څخه خلاص سې نولږوخت له حجرې ووزې ځکه ترټولومخکې به په ماباندې جبرئیل علیه السلام لمونځ کوي بیامیکائیل علیه السلام بیااسرافیل علیه السلام اوبیاملک الموت علیه السلام اوبیانوري ملائکه علیهم السلام تردې وروسته تاسویوه یوه ډله دننه راځئ اوپرماباندې درود اوسلام وایاست ، علامه سهیلي وایې چې الله تعالی دنبي کریم ﷺ په اړه فرمایلي ...

سیف لودین کتابتون

﴿إِنَّ اللهَ وَمَلاَئِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيماً﴾ (أيت سور/احزاب)
په دې آيت مبارک کې هرمسلمان ته دصلاة اوسلام يواځې يواځې حکم سوی دی لکه څنګه چې دنبی کريم ﷺ په ژوند کې صلاة اوسلام پرته له امام اوپرته له جماعت فرض وو دغه رنګه دنبی کريم ﷺ له وفات وروسته هم پرته له کوم جماعت اوامام څخه دصلوة اوسلام فريضه يواځې يواځې آداسوه (۱)

ف: ابن دحيه فرمايې چې دیرش زره انسانانو په نبی کريم ﷺ باندی دجنازې لمونځ اداکې

دنبی اکريم صلی الله عليه وآله وسلم تدفين (ښخول)

ددوشنبې ورځ دغرمې په وخت کې نبی کريم ﷺ وفات سو داهم هغه ورځ اووخت وو کله چې نبی کريم ﷺ له مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت کړی وو اومدينې ته داخل سو وو اودچهارشنبې په شپه نبی کريم ﷺ خاورته وسپارل سو دجمهورعلماء همداخبره ده اويوشميرروايات ددې تصريح کوی چې په هغوکې دتأويل هيڅ ځای نسته

يوشميربياوايې چې دسه شنبه په ورځ ښخ سوی دی علی ؓ اوعباس ؓ اودهغه دوه زامن فضل ؓ اوقثم ؓ نبی کريم ﷺ قبرته کښته کړی دی کله چې دوئ له ښخيدلو خلاص سو نودغره په شکل يې دنبی کريم ﷺ قبرتيارکې اوبيايې اوبه پرواچولی (۲)

صحابه کرام ؓ چې کله له ښخيدلو خلاص سو دافسوز په لاسو اوپه اوښکلنوسترګو په دې لوئ غم باندی انالله واناالیه راجعون له ځان سره ويل اوکوروته ولاړل

رازونه اوحکمتونه!

درسول الله ﷺ دوفات بيان لوستونکوحضراتوتاسوولوست اوس موږدوفات په اړه باريکی اوحکمتونه ستاسومخ ته وړاندی کوو سُبْحَانَکَ لاَعِلْمَ لَنَا اِلاَّ مَا عَلَّمْتَنَا اِنَّکَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَکِيْمُ)

لومړی راز : دآخرت دسفرتياری دانبياء کرام عليهم الصلوة والسلام سنت اوطريقه ده انبياء عليهم السلام ته خپل مرګ دوخت دنژدی کيدوخبر په وحی اوغيبی دلائلوسره ورکول کيږی اونيک اوصالح بندګانوته دالهام اوښوخوبوله لاری په يوشميروختوکې دخپل مرګ وخت رښودل کيږی نبوت خوپای ته رسيدلی دی خوښه خوبونه لاتراوسه په امت کې پاته دی چې دخوبوله لاری په يوشميروختوکې وښوخلکوته کله صراحةً اوکله داشاری په ډول سره ښودل کيږی مګر داخبره يادساتی چې خوب ليدل دهيچاپه خوښه نه دی خوب ورښودل دالله تعالی کاردی چاته چې وغواړی اوڅه وخت چې وغواړی اوڅومره چې وغواړی اوڅنګه چې وغواړی ورښيی يې اوکه دالله ﷻ نه وی خوښه نوهيڅ هم نه ورښيي

(۱) زرقانی شرح موطا جلد ۲ /ص/ ۲۹، وشرح مواهب جلد ۸ /ص/ ۲۹۱)
(۲) طبقات ابن سعد جلد ۲ /ص/ ۶۷)

سیف لودین کتابتون

او عامو مؤمنانو ته کله د خوب له لارې او کله د عمر په تیریدو او کله د ناروغۍ په اخته کیدو سره خبر ورکول کیږي چې ستا د مرګ وخت رانږدې شوی دی او کله د خپلو همزولو په وفات سره سړي دا فکر ورپیدا کیږي چې زما همزولي خو له دنیا څخه روان دي ماته هم د مرګ تیاري په کار دی او د مرګ د راتلو خبر ترټولو ښکاره لامل د شپیتو کالو عمر ته رسیدل دي او سپین ږیروالي دی چې تر هغه وروسته دلیل او بهانه ختمیږي الله تعالی فرمایي:

اَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُ أیت سورة فاطر)

بهرحال د مرګ خبرداري یوازې له یوې لارې نه بلکې له ډیرو لارو سړي ته ښودل کیږي د مرګ تیاري کیدای سي سړی باید دا فکر وکړي چې انبیاء کرام علیهم السلام د الله ﷻ غوره بندګان دي معصوم دي د هغوی بخښنه قطعي او یقیني ده او موږ ګناهکاران او ناوړه خو له سره ترپښو پوري مجرمان یو موږ ته خو په کار دي چې هر وخت د مرګ تیاري وکړو څو مره چې کیدای سي توبه او بخښنه غواړو او دا دعاء وکړو

اَللهم فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالاَرۡضِ اَنتَ وَلِيِّي فِي الدُّنۡيَا وَالآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسۡلِماً وَاَلۡحِقۡنِي بِالصَّالِحِين﴾

د کاغذ د پیښي په اړه سوال او ځواب !

د کاغذ د پیښي په اړه شیعه ګان په فاروق اعظم رضی الله عنه باندې بد وایې چې د نبی کریم ﷺ د ژوند د پای په شیبو کې یې نبی کریم ﷺ له وصیت کولو څخه منع کی او کاغذیې نه راوړی او نه یې څه ولیکل او د نبی کریم ﷺ له حکم څخه یې سرغړونه وکړه ؟

ځواب :

دا حکم یوازې عمر فاروق رضی الله عنه ته نه وو بلکې په حجره کې چې څو مره کسان ناست وو هغو ټولو ته د کاغذ او قلم او مشوانۍ د راوړلو امر سوی او د حجرې په ناستو کسانو کې ډیر یې اهل بیت وو چې په هغو کې علی رضی الله عنه او عباس رضی الله عنه هم شامل وو که حضرت عمر رضی الله عنه کاغذ او قلم نه راوړل نو علی رضی الله عنه او عباس رضی الله عنه چا منع کړی وو کله چې علی رضی الله عنه او عباس رضی الله عنه هم کاغذ او قلم نه راوړل نو له دې معلومه سوه چې د علی رضی الله عنه او عباس رضی الله عنه هم هم دا رایه وه کومه چې د عمر فاروق رضی الله عنه وه چې د ناورغۍ او تکلیف په وخت کې نبی کریم ﷺ ته باید تکلیف ورنه کړل سي نو که دا حکم د وجوب او فرضیت لپاره وو نو خو ټول حاضرین دي سرغړونکي او د نبی کریم ﷺ د امر منلو مخالفین وبلل سي یوازې د عمر فاروق رضی الله عنه خصوصیت ولې کیږي چې تاسو یوازې پر یې بد وایاست

او بل دا چې د دې خبرو وروسته نبی کریم ﷺ پنځه ورځې وروسته هم په دې دنیا کې ژوندی وو نه خو نبی کریم ﷺ دویم ځل کاغذ او قلم او مشوانۍ وغوښتل او نه اهل بیت او نورو صحابه کرام رضی الله عنهم هیڅ په دې اړه څه ونه ویل نو له دې معلومه سوه چې دا کوم واجب او لازمي امر نه وو که چیرې وای نو نبی کریم ﷺ به په خپله دا هرو مرو لیکلی وو په دلیل د دې قول د الله پاک ﴿يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغۡ مَا أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُ ۶۷ آیت سورة المائدة

سیف لودین کتابتون

اوعمرفاروق ؓ به هم په دې پنځه ورځې کې کاغذاوقلم راوړی وو اوداواجب امربه یې پرځای کړی وو اودسرغړونکوله ډلې به وتلی وو عمرفاروق ؓ خودرسول الله ﷺ ددروازې چوکیدار نه وو چې هیڅ یوه سړی دعمرفاروق ؓ له اجازې پرته کاغذاوقلم نه سوراوړلای دعمرفاروق ؓ داغوښتنه داسې وه لکه علي ؓ ته چې رسول الله ﷺ دحدیبیه په سوله کې امروکړ چې دسولې له لیک څخه درسول الله لفظ ونړوه مگر علي ؓ دده امرونه منی نوداحکم نه منل که څه هم ظاهرااوپه ښکاره خوسرغړونه ده مگر په حقیقت کې داډېر محبت اواخلاص اومینې اودکمال عظمت ثرگندونه کوی چې پرهغه باندې په زرهاوو عبادتونه قربان دی

اودعمرفاروق ؓ داخبره چې (حَسۡبُنَا كتاب الله) زموږلپاره قرآن کافی دی ددې مطلب دانه وچې موږحدیث ته هیڅ اړتیانه لرو بلکې ددې مطلب دادی چې دین پوره سوی دی په هغه کې ټول ضروری کارونه ښودل سوی دی اوس ددین کوم نوی حکم نه دی پاته غالبابه دنبی کریم ﷺ دبشریت په تقاضا لده سره داویره وه چې موږ له ده وروسته په گمراهی اخته نه سو یعنی زموږپه دین کې خلل پیبښ نه سی عمرفاروق ؓ دشفقت اومینې په وجه غوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ ته په دې ناروغي اوتکلیف کې یې نورتکلیف برداشت نه کړی کتاب الله موله گمراهی څخه ساتی دازموږلپاره کافی دی نودعمر ؓ داغوښتنه مینه اوعین محبت دی معاذالله سرغړونه نه ده اوکله داوویل سی چې رسول الله ﷺ دخلافت په هکله غوښتل څه ولیکی نوموږبیاداوایو چې بیابه له دووحالتوڅخه خالی نه وې یاخوبه یې دابوبکرصدیق ؓ دخلافت لیک لیکي یادعمرفاروق ؓ په لومړی صورت کې خورسول الله ﷺ داارادہ پرې ایښی وه اوداسې یې فرمایلی وو چې (يأبى الله والمؤمنون الاابابكر) الله تعالی اومومنان له ابوبکرصدیق ؓ څخه پرته دهیچاخلافت نه قبلوی داپریکړه خورسول الله ﷺ په الله تعالی باندې اوبیادمسلمانانوپه اجماع اواتفاق باندې پرېښوده اوکه دعلي ؓ خلافت لیکل یې نیت وو نودشیعه گانوپه نزد ددې اړتیانه وه ځکه ددې پیبښې څخه مخکې دزرگونوخلکوپه شتون کې دغدیرخم په میدان کې دعلي ؓ ددوستی اومحبت خطبه ولوسته اوله علي ؓ سره یې هرمؤمن نارینه اوښځی ته دعلي ؓ دمحبت اودوستی امرکړی وو اوداپیبښه په ټوله دنیاکې مشهوره سوې وه نوددې شهرت اوتواترعام اعلان څخه وروسته دکورني لیک ی لیکلوچې په دې کوچنی حجره کې دیوڅواهل بیت په مخکې وې څه اړتیاوه

ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه امامت !

دناروغي په وخت کې رسول الله ﷺ ابوبکرصدیق ؓ ته دلمانځه ورکولوامروکي له احادیثوڅخه ثابت دی اوشیخ جلال الدین سیوطی په تاریخ الخلفاء کې لیکی چې داحدیث متواتر دی داحدیث عائشه صدیقه ؓ اوعلي ؓ اوعبدالله ابن مسعود ؓ

سیف لودین کتابتون

اوعبدالله بن عباس ﷺ اوعبدالله بن عمر ﷺ اوعبدالله بن زمعه ﷺ اوحفصه ﷺ له دې ټولو حضراتو څخه بیل بیل روایت سوي دی ،، په صحیح بخاری کې راغلی دی چې دعائشه صدیقه ﷺ درې ځله انکاروکي مګربیاهم رسول الله ﷺ په ټینګارسره وفرمایل چې ابوبکرصدیق ﷺ ته ووایه چې صحابه کرام ﷺ ته لمونځ ورکړی اوله بې شمیره احادیثو څخه داثابت دی چې رسول الله ﷺ مسلمانانو ته ددې خبر ټینګارکړی ووچې دلمانځه امام بایدداسې څوک وی چې په علم ، قرائت ، پرهیزګاری ، اوتقوی کې ترټولو غوره وی اودشیعه ګانو په نزدخوله افضل او اشرف څخه پرته دهیچاامامت جائزنه دی

اوس له دې احادیثواولارښوونو وروسته داخبره بیخي ښکاره اوروښانه کیږی چې درسول الله ﷺ په خپل ځای باندی ابوبکرصدیق ﷺ ته دلمانځه ورکولو حکم ددې خبری ښکاره دلیل دی چې دنبی کریم ﷺ په نظرکې ابوبکرصدیق ﷺ ترټولو عالم ، پرهیزګاره ، اوتقوی درلودونکي وو لکه چې دټولو مفسرینو پردې اجماع ده چې دسورة اللیل داآیت (﴿وَسَيُجَنَّبُهَا الاَتْقَي﴾ (۱۷) ﴿الَّذِی يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكّي﴾ (۱۸) دابوبکرصدیق ﷺ په باره کې نازل سوی دی اوپه دې آیت کې داتقی چې معنی ترټولو ډیر پرهیزګاره له دې څخه مراد ابوبکرصدیق ﷺ دی اوپه قرآن کریم کې بل ځای ارشاددی (اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ اَتْقَاكُمْ اِنَّ اللهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ﴾ (۱۳آیت سورة الحجرات) شیعه ګان دی ووایې که ابوبکرصدیق ﷺ العیاذبالله) کافروو یافاسق وی یامنافق وی نورسول الله ﷺ هغه ولی امام وټاکی اوپه یوشمیرلمونځوکې یې په هغه پسی ولی اقتداء وکړه اودرسول الله ﷺ له وفات وروسته علی ﷺ اوعثمان ﷺ اوعمر ﷺ ولی په ده پسی لمونځ کول حافظ ابن کثیروایې :

والمقصود ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قدم ابابکراماما للصحابة کلهم فی الصلاة التی هی اکبر ارکان الاسلام العملیة قال الشیخ ابوالحسن الاشعری وتقدیمه له امرمعلوم بالضرورة من دین الاسلام قال وتقدیمه له دلیل علی انه اعلم الصحابه ﷺ واقرأهم لماثبت فی الخبر المتفق علی صحة بین العلماء ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال یؤم القوم اقرأهم لکتاب الله فان کانوا فی القرائة سواء فاعلمهم بالسنة فان کانواسواء فاکبرهم سنا فان کانوا فی السن سواء فاقدمهم اسلاما قلت وهذامن کلام الاشعری رحمه الله تعالی مماینبغی ان یکتب بماء الذهب ثم قداجتمعت هذه الصفات کلها فی الصدیق رضی الله تعالی عنه وارضاه (البدایه والنهایه جلد۵/ص/۲۳۶) مقصود دادی چې رسول الله ﷺ ابوبکرصدیق ﷺ دټولو صحابه کرام ﷺ امام وټاکی چې هغوئ ته لمونځ ورکړه اودا ښکاره خبره دی چې داسلام په ارکان عملیه وو کې ترټولو لوی اوغوره رکن لمونځ دی امام ابوالحسن اشعری ﷺ فرمایې چې په ټولو صحابه ﷺ وو کې دابوبکرصدیق ﷺ دامامت حکم کول ددې خبری ښکاره دلیل دی چې ابوبکرصدیق ﷺ ترټولو صحابه ﷺ وو په علم ،تقوی ، پرهیزګاری کې غوره دی یعنی

سیف لودین کتابتون

امامت به هغه سړی کوی چې په قرآن ډیر خبروی او که په علم کې ټول سره برابروی نو بیا به امامت هغه سړی کوی چې په سنت نبوی ترټولو ډیر خبروی او که د سنت په علم کې هم برابروی نو بیا چې په عمر کې ترټولو مشروی هغه دې امامت ورکړی او که په عمر کې هم برابروی نو څوک چې په اسلام راوړلو کې مخ ته وی هغه به امامت ورکوی او د دې حدیث په صحت باندی د ټولو علماء اتفاق دی حافظ ابن کثیر فرمایې چې د امام اشعری دا خبری د دې وړدی چې په سروزرو سره ولیکل سی او په ابوبکر صدیق ﵁ کې دا ټول صفات موجودوو

شیعه ګان په دې اقرار کوی چې علی ﵁ او عباس ﵁ به د نبی کریم ﷺ حجری مبارکی ته ورتلل مګر نبی کریم ﷺ پرته له ابوبکر بل چاته د امامت امر نه دی کړی صحابه کرام ﷺ په همدې امامت سره د ابوبکر صدیق ﵁ په خلافت باندی استدلال وکړ او ابن عساکر له علی کرم الله وجهه څخه قول رانقل کړی دی وایې چې ده به ویل چې نبی کریم ﷺ ابوبکر صدیق ﵁ ته د امامت حکم وکی او موږ موجودوو غائب نه وو روغ وو ناروغه نه وو نو کوم سړی چې رسول الله ﷺ د دین په اړه زموږ امام ګرزولی دی نو هغه د دنیا په معاملو کې موږ ولی خپل امام نه جوړوو دارنګه د رسول الله ﷺ په خپله آخری خطبه کې د ابوبکر صدیق ﵁ د افضلیت او د هغه د خلافت آګاهی وه او د پوهانو په نزد اشارات د تصریحاتو قائم مقام دی

د دروازی د تړلو په اړوند سوال او ځواب !

سوال : په مسند احمد کې له سعد بن ابی وقاص ﵁ څخه روایت سوی دی (امر رسول الله صلی الله علیه وسلم بسد الابواب الشارعة فی المسجد وترک باب علی (مسند جلد۱/ص/۱۷۵) ژباړه نبی کریم ﷺ حکم وکی چې د مسجد خواته خلاصی سوی ټولی دروازی دې وتړل سی پرته د علی ﵁ له دروازی یوائې هغه دې خلاصه پاته سی نو د مسند احمد دا روایت د صحیح بخاری او مسلم له روایت سره په ټکر کې دی ځکه په دوئ کې تصریح سوی ده چې پرته د ابوبکر صدیق ﵁ له دروازی دی نوری ټولی درواز وتړل سی

ځواب ! لومړی خو دا درته وایم چې د مسند احمد روایت د صحیحنو له روایت سره نه سی پرتله کیدای او که بالفرض د مسند احمد روایت هم صحیح سی نو د صحیحن په حدیث سره به منسوخ وی ځکه د صحیحن حدیث د وفات د مرض په وخت کې وو او په دې وخت کې آخری حکم وی او د علی ﵁ د دروازی خلاص پریښودل هغه حکم هغه وخت وو کله چې مسجد نبوی جوړیدی علی ﵁ به د هغه دروازی له خوارا تلی او بیرته به کورته تلی او دا کلمه چې د ابوبکر صدیق ﵁ له دروازی پرته دې نوری ټولی دروازې بندې سی

سیف لودین کتابتون

ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه دنبی کریم ﷺ په ژوندکي څوورځی امامت وکي

امام زهری له ابوبکربن ابی سبرة څخه روایت کوی چی ابوبکرصدیق رضی الله عنه اوولس ۱۷ لمنځونه ورکړی دی اودیوشمیرنوروپه خبره یې شل لمنځونه ورکړی دی والله اعلم (۱) علامه سهیلی وایې چی دحسن بصری (۲) په یومرسل روایت کې راغلی دی چی رسول الله ﷺ لس ورځي ناروغه وو چی په دې لسوکې نه ۹ ورځی ابوبکرصدیق رضی الله عنه صحابه کرام رضی الله عنهم ته لمنځونه ورکړه په لسمه ورځ نبی کریم ﷺ داسامه رضی الله عنه اوفضل بن عباس رضی الله عنه په مرسته مسجدته تشریف رواړی اوپه ابوبکرصدیق رضی الله عنه پسی یې لمونځ وکي داحدیث دارقطنی روایت کړی دی اوداحدیث غریب دی (۳)

دنبی کریم ﷺ وفات دمیاشتی په څوومه ورځ وو !

پردې خبره خودټولوعلماء اتفاق دی چی درسول الله ﷺ وفات ددوشنبی په ورځ اودلومړۍ خورپه میاشت کې وو مګرپه دې کې اختلاف دی چی دمیاشتی په کومه ورځ وو هغه دمیاشتی څوومه وه مشهوره خوداده چی دلومړۍ خوردولسمه ۱۲ وه مګرپه دې کې داسوال پیداکیږی چی په حجة الوداع کې چی کله نبی کریم ﷺ په عرفات ودریدی دټولوپه اتفاق هغه دجمعی ورځ وه نوله دې معلومیږی چی دلوی اخترد میاشتی نهمه ورځ جُمعه وه اودلوی اخترلومړی ورځ دپنجشنبی وه نوپه دې صورت کې دراتلونکي کال دوشنبه دولسم دربیع نه سی کیدای که درې سره میاشتی یعنی دلوی اخترمیاشت اودمحرم میاشت اودصفری میاشت که پوره دیرش سی اوکه یوکم دیرش سی اویوه میاشت پوره اوبله کمه سی هم ددوشنبی ورځ دلومړۍ خور دوولسمه ۱۲ نه سی راتلای ځکه یوشمیرعلماء ویلی دی چی دوفات ورځ دلومړۍ خور دیارلسمه ۱۳ ده اویوشمیرنوروبیاڅورلسمه ۱۴ بللی ده اویوشمیرنوروبیاپنځه لسمه ۱۵ ویلی دی اویوشمیرنوروبیاسکوت کړی دی لکه چی حافظ ابن رجب په لطائف المعارف کې لیکلی دی ،، اویوشمیرنوروعلماء بیاویلی دی چی کیدای سی دمکی اومدینی منوری کې داختلاف دمطالعوپه وجه اختلاف وی په مدینه منوره کې دلومړۍ خوراوله ورځ پنجشنبه وی نوددوشنبی ورځ به دوولسم ۱۲ دلومړۍ خورسی والله اعلم که موډیر تفصیل په کاروی نوفتاوی مولاناعبدالحی لکهنوی قدس الله سره دریم جلد وګوری)

---

(۱) اصل عبارت داسی دی (قال الزهری عن ابی بکربن ابی سبرة رضی الله عنه ان ابابکر رضی الله عنه صلی بهم سبع عشرة صلاة وقال غیره عشرین صلاة والله اعلم کذافی البدایه والنهایة جلد۵/ص/۲۳۵)

(۲) دروایت اصلی عبارت داسی دی (وفی مراسیل الحسن البصری ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مرض عشرة ایام صلی ابوبکر رضی الله عنه بالناس تسعة ایام منها ثم خرج رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الیوم العاشر منها یهادی رجلین اسامة والفضل بن عباس رضی الله عنه حتی صلی خلف ابی بکر رضی الله عنه رواه الدارالقطنی ففی هذالحدیث انه مرض عشرة ایام وهوغریب کذافی الروض الانف جلد۲/صفحه ۲۶۹)

(۳) الروض الانف جلد ۲ /ص /۲۶۹)

سیف لودین کتابتون

فائده ! حافظ ابن کثیروايي چې دبخاري له روایت څخه په ښکاره معلومیږي چې رسول الله ﷺ دَدوشنبې په ورځ دسهار په لمانځه کې ګډون نه دی کړی اودتوان نه لرولوله کبله نبي کریم ﷺ بیرته ولاړی ځکه دبخاری الفاظ داسې دي (وارخی النبی صلی الله علیه وسلم الحجاب فلم یقدر علیه حتی مات) امام بیهقي وايي چې په یوروایت کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ دسهار په لمانځه کې ګډون وکړ خودادراوي وهم دی ځکه دبخاري اومسلم په روایتوکې ددې تصریح سوې ده چې نبي کریم ﷺ دهغه سهار په لمانځه کې ګډون نه دی کړی راوي دتیرماپښین دلمانځه په وخت کې نبي کریم ﷺ په مسجد کې په جماعت سره لیدلی دی هغه دپنج شنبې ورځ دماپښین لمونځ وو چې ترهغه وروسته بیانبي کریم ﷺ خطبه ولوسته اودشنبې اویک شنبې په ورځ مسجدته نه دی راغلی ددوشنبې په ورځ یې دسهار په وخت کې له حجرې مبارکې څخه صحابه کرام رضي الله عنهم ته وکتل اوصحابه کرام رضي الله عنهم هم ولیدی خودراتګ توان یې نه وو اوبیرته یې پرده کښته کړه (۱)

اوحسن بصري په یو مرسل روایت کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ لس ورځې ناروغه وو اوابوبکرصدیق رضي الله عنه نه ۹ ورځې صحابه کرام رضي الله عنهم ته لمنځونه ورکړه (۲)

دویمه فائده : له دنیاڅخه درخصتیدو په وخت کې دنبي کریم ﷺ یوڅوک پرخپل ځای باندې امام ټاکل اوپه خپله مصلّی باندې هغه ته دامامت حکم کول داسې مثال لري لکه یوپاچاچې له خپل تخته ولاړسي اوبل څوک پرځای کښینوي دنبي کریم ﷺ دلمانځه باردپاچهي ترتخت ډیر غوره اوښه دی ځکه دنبي کریم ﷺ له وفات وروسته صحابه کرام رضي الله عنهم له ابوبکرصدیق رضي الله عنه سره بیعت وکړي اوددین اودنیالپاره یې هغه پیشوا اومقتدا وګرزوی لکه څنګه نبي علیه السلام ترامت غوره اوافضل وی دغه رنګه دنبي علیه السلام خلیفه اوځای ناستی هم باید هغه څوک وي چې ترټولوغوره اوافضل وی دافضلیت اودنبوت دخلافت په مینځ تلازم دی دنبي علیه السلام ځای ناستی ددنیا نائب والی نه دی ځکه صحابه کرام رضي الله عنهم له هغه چاسره بیعت وکړ چې هغه نبي کریم ﷺ دلمانځه لپاره خلیفه ګرزولی وو ..

دریمه فائده : له دې څخه داهم معلومه سوه چې ابوبکرصدیق رضي الله عنه دنبي کریم ﷺ تروفات پورې امام وو دشیعه ګانوداخبره چې نبي کریم ﷺ ابوبکرصدیق رضي الله عنه له امامت ګوښه کړی وو ییخي غلطه اوبې بنیاده ده (۳)

زرقاني جلد ۸ /ص / ۲۷۴)
روض الانف جلد ۲ /ص / ۳۶۹)
(۳)زرقاني جلد ۸ /ص / ۲۷۴)

سیف لودین کتابتون

دبنی ساعده په سقیفه کې دخلافت دبیعت بیان !

ددوشنبی په ورځ دغرمی په وخت کې رسول الله ﷺ له دی فانی دنیاڅخه وآبادکورته سفروکي ددې خبرپه اوريدوسره صحابه کرام ﷺ بيهوبنه سو اوډير لوئ غم ورته پيښ سو ديوشمير صحابه کرام ﷺ داخيال وو چی نبی کريم ﷺ لاتراوسه نه دی وفات سوی داله ډيره محبت اومينی څخه وو نه دناپوهی له کبله وو ابوبکرصدیق ﷺ ته چی کله خبرورسيدی نوپه غم اوژړاکې له کوره راغلی اوصحابه کرام ﷺ ته يې تسلی ورکوله

مابنام ابوبکرصدیق ﷺ ته چاخبر راوړی چی انصار ﷺ دبنی ساعده په سقیفه کې راغونډسوی دی غواړی چی له سعدبن عباده ﷺ سره بيعت وکړی یوشمیرانصار ﷺ داوايې چی یوامیربه زموږله لوری وی اویوامیربه دقریشوڅخه وی دانصارودافکر دی چی دخلافت حقدار موږیو ځکه موږددین مرسته کړی ده ، اورسول الله ﷺ ته مو په خپل وطن کې ځای ورکړی دی اوله نبی کریم ﷺ سره موملگری کړی ده اودالله ﷻ له دښمنانوسره موجهادکړی دی اویوشمیرنورانصارو ﷺ بياددوئ مخالفت کوی اوس ددوئ په خپل مینځ کې دخلافت دمسئلی بحث ډیر تودروان دی ابوبکرصدیق ﷺ اوعمرفاروق ﷺ چی کله خبر واوریدی دوئ دواړه له ابوعبيده بن الجراح ﷺ سره یوځای داختلاف دمخنیوی لپاره سقیفی ته ولاړو دوئ وويل هسی نه چی فتنه راپورته سی عاصم بن عدی ﷺ اوعويم بن ساعده ﷺ سره يې وليدل عاصم ﷺ اوعويم ﷺ دوئ دهغه ځای له تگه منع کړل مگردوئ ونه گرزيدل اوډير ژر سقیفه ته ورسيدل کله چی ابوبکرصدیق ﷺ اوعمرفاروق ﷺ سقیفه ته ورسيدل نوسعدبن عباده ﷺ هلته ناست وو کمپله يې اغوستی وه نوموړی ناروغه وو خوانصارو ﷺ سعدبن عباده ﷺ له کوره ددې لپاره راوستلی وو چی خپل اميريې وټاکی .

سعدبن عباده ﷺ وغونډی ته ويناکوی !

سعدبن عباده ﷺ ولاړسو اودحمداوثناء وروسته يې داسی وفرمايل :

امابعد ، فنحن الانصار وكتيبة الاسلام وانتم يامعشرقريش رهط بيننا وقد دفت الينا دافه من قومكم فاذاهم يريدون اى يغصبونا الامر)

ژباړه : وروسته تردې موږ انصار ﷺ یو یعنی ددین اسلام مرستندويان اوداسلام لښکریو اوتاسوای مهاجرینو په موږکې یوه وړوکي ډله یاست یعنی تاسولږیاست اوموږډیر یو اوبیاهم ستاسودقوم لږټولی ته موږپناه ورکړه اودوئ اوس له موږڅخه زموږدخلافت حق غصب کول غواړی ..

اوپه بل روايت کې راغلی دی چی سعدبن عباده ﷺ په خپلوخبروکې داسی وويل :

سيف لودين كتابتون

يا معشر الانصار لكم سبقة وفضيلة ليست لاحد من العرب ان محمداً صلى الله عليه وسلم لبث فى قومه بضع عشرة سنة يدعوهم فما آمن به الا القليل ماكانوا يقدرون على منعه ولا على اعزاز دينه ولا على دفع ضيم حتى اذا اراد الله بكم الفضيلة ساق اليكم الكرامة ورزقكم الايمان به وبرسوله والمنع له ولاصحابه والاعزاز له ولدينه والجهاد لاعدائه فكنتم اشد الناس على عدوه حتى استقامت العرب لامر الله طوعاً وكرهاً واعطى البعيد القادة صاغراً فدانت الرسول باسيافكم العرب وتوفاه الله وهو عنكم راض قرير العين استبدوا بهذا الامر دون الناس فانه لكم دونهم (۱)

ژباړه : اې انصارو ﷺ تاسو ته په اسلام کې داسې غوره والی او مخکې والی حاصل دی چې په عربو کې له تاسو پرته بل هیچا ته حاصل نه دی رسول الله ﷺ په قوم کې دریالس کاله تیر کړه دوئ ته یې داسلام بلنه ورکړه ډیرو لږو خلکو په دې زیاته موده کې په ده باندې ایمان راوړی او په هغوئ کې داتوان نه وو چې د نبی کریم ﷺ ساتنه وکړی او نه په هغوئ کې د نبی کریم ﷺ د دین عزت او غلبې ورکولو توان وو تردې چې په هغوئ کې داتوان هم نه وو چې دیو دښمن تیری له خپل ځان واړوی الله تعالی چې کله تاسو ته غوره والی درکول وغوښتل نو دعزت او کرامت اسباب یې تاسو ته برابر کړه او تاسو ته یې دایمان توفیق درکړی او د نبی کریم ﷺ او د هغه د ملګرو ساتنه یې په تاسو وکړه او د الله د دښمنانو سره موجهاد وکي او د الله ﷻ په دښمنانو باندې تاسو تر ټولو سخت ثابت سوا ست تردې چې ټولو عربو د الله ﷻ امر ته غاړه کېښوده او مخکنیو خلکو هم د مجبورتیا په وجه غاړه کېښوده او ستاسو په توروسره ټول عرب د رسول الله ﷺ منونکي سو او بیا الله ﷻ خپل نبی ﷺ وفات کي او کله چې هغه وفات کیدي نو هغه له تاسو راضی وو او د هغه سترګی په تاسو یخې وی نو تاسو دا منصب لاس ته ورسوی دا ستاسو حق دی د نورو خلکو حق نه دی ..

ناستو خلکو د سعد بن عباده ﷺ داوینا ډیره خوښه سوه او له هر لوری د شاباسی آوازونه راپورته سو د تقریر له پای ته رسیدو وروسته بیا پردی خبری پیل سوی خو مهاجرینو ﷺ اعتراض وکي چې موږ د رسول الله ﷺ لومړنی ملګری یو او پر هغه مو تر ټولو مخکې ایمان راوړی دی او د نبی کریم ﷺ له قبیلې څخه یو او د هغه ډله یو او له هغه سره مو هجرت کړی دی خپلوان او شتمنی هر څه موپریښودل د دین اسلام د عزت په خاطر دلته راغلو په دې خبرو کې یو شمیر انصارو ﷺ وویل چې ښه به داوی چې دوه مشران وټاکو یودې له مهاجرینو ﷺ څخه وی او بل دې له انصارو ﷺ څخه وی دواړه به په خپل مینځ کې په صلاح او مشوره سره کار ترسره کوی سعد بن عباده ﷺ وویل دا مو لومړنی کمزوری ده عمر فاروق ﷺ غوښتل چې څه وواېې خو ابوبکر صدیق ﷺ هغه ته وویل (على اسلک) اې عمر فاروق ﷺ صبر وکړه عمر فاروق ﷺ کېښینستی او ابوبکر صدیق ﷺ ولاړ سو او تقریریې شروع کي :

---

(۱) ابن اثیر جلد ۲ /ص/ ۱۲۵)

دابوبكر صديق رضى الله تعالى عنه وينا دسقيفه په غونډه کې !

ابوبکرصديق ؓ ولاړسو اودالله تعالى حمداوثناء اودرود يې وويل وروسته يې داسې وفرمايل : ان الله قدبعث فينا رسُولا شهيدا على امة ليعبدوه ويوحدوه وهم يعبدون من دونه الهة شتى من حجر وخشب فعظم على العرب ان يتركوا دين آبائهم فحض الله المهاجرين الاولين من قومه بتصديقه والمواساة له والصبرمعه على شدة اذى قومهم وتكذيبهم اياه وكل الناس لهم مخالف زارعليهم فلم يستوحشوا لقلة عددهم وشنف الناس لهم فهم اول من عبدالله فى هذه الارض وآمن بالله وبالرسول وهم اوليائه وعشيرته واحق الناس بهذاالامر من بعده لاينازعهم الاظالم وانتم يامعشرالانصار من لاينكرفضلهم فى الدنيا ولاسابقتهم فى الاسلام رضيكم الله انصارا لمدينه ورسوله وجعل اليكم هجرة فليس بعدالمهاجرين الاولين عندنابمنزلتكم فنحن الامرآء وانتم الوزراء لاتقاونون بمشورة ولانقضى دونكم الامور (۱)

ژباړه :په تحقيق سره الله تعالى په موږکې يورسول ﷺ پيداکي چې دامت لارښونه وکړي ددې لپاره چې خلک ديوه الله ﷻ بندګى وکى اودې خلکودنبى کريم ﷺ ترراتلومخکې دکاڼواولرګوڅخه دجوړسوبتانوعبادت کوي عربوته دخپل پلرودين پريښودل ډيرګران سو بياالله تعالى دهغه په قوم کې لومړنيو مهاجرينو ؓ ته خاص توفيق ورکي چې ترټولومخکې يې دهغه خبره ومنله اوله هغه سره ملګرى سو اودقوم له لورى چې کوم سخت تکليفونه ور ورسيدل پرهغويې صبروکي سره له دى چې په هغه وخت کې ټول ددوئ دښمنان وو اوسره له دى چې دوئ ډيرلږهم وو خودخلکوله دښمنۍ څخه ونه ويريدل اوپه هيڅ حالت کې يې دنبى کريم ﷺ ملګرى نه پريښوده بيالومړني مهاجرين ؓ ترټولوخلکومخکې هغه څوک دى چې دالله په ځمکه باندى يې دالله ﷻ عبادت کړى دى اوپه الله ﷻ اودهغه په رسول ﷺ باند يې ترټولومخکې ايمان راوړى دى اودغه خلک دنبى کريم ﷺ دوستان اوقبيله ده يعنى دهغه خپلوان اوکورنۍ څخه دى اوهمداخلک ترهغه وروسته دخلافت ترټولوحقداره دى په دې کارکې پرته له ظالم بل څوک له دوئ سره جګړه نه سى کولاى اواې انصارو ؓ ستاسوغوره والى اوپه دين اسلام کې مخکيوالى هرچاته ښکاره دى تاسودخپل رسول ﷺ اوددين اسلام مرسته کونکي ياست اورسول الله ﷺ تاسوته هجرت کړى دى نوترلومړنيو مهاجرينووروسته زموږپه نزدستاسومرتبه ده بل هيڅوک له تاسوسره نه سى برابريداى نوموږبه اميران يو اوتاسوبه زموږوزيران ياست ستاسوله مشورى پرته به کارونه نه کيږى ..

---

(۱) ابن اثيرجلد ۲ /ص/ ۱۲۵)

سيف لودين کتابتون

اوپه يوبل روايت کې راغلي دي چې ابوبکرصديق رضی الله عنه دانصاورو رضی الله عنهم په ځواب کې داسې وفرمايل : ماذکرتم من خير فانتم اهل وماتعرف العرب هذا الامر الا لهذا الحي من قريش هم اوسط العرب نسبا ودارا (بخاري شريف صفحه ۱۰۱۰ کتاب المحاربين)

ژباړه : اې انصارو رضی الله عنهم تاسوچې کومې ښيګڼې اوصفات بيان کړه ربنتياهم تاسوددې وړياست مګر عرب له قريشوپرته دبلې قبيلې خلافت نه مني ځکه قريش دنسب اوحسب په اعتبارسره اودځای په اعتبارسره ترټولوغوره اوافضل دي ..

دابوبکرصديق رضی الله عنه هدف داوو چې خليفه بايدله داسې قبيلې وي چې دهغوئ مشرې اوشرافت اونسب په ټولوعربوکې منل سوی وي ددې لپاره چې خلک دهغه په امارت باندې متفق سي اودهغه په پيروی اوامرمنلوسره دشرم احساس ونه کړي ځکه که په اميرکې دکورنۍ عزت اوشرافت اوغوره والی نه وي نونورعرب دهغه اميرومنلوته غاړه نه ايږدي بلکې هغه سپک اوذليل ګڼي دابوبکرصديق رضی الله عنه هدف داښودل چې ټول عربومخکې لادامنلې ده چې قريش په ټولوعربوکې غوره دي اواوس اوخزرج ته دعزت اوشرافت په نظرنه ګوري نوکه له انصارو رضی الله عنهم څخه څوک اميروټاکل سي نودعربوشاوخواقبيلې به دهغه پيروی ونه کړي اودهيوادعام اوسيدونکي به دهغه په امارت باندې يوه خوله نه سي اودخلافت اوامارت لپاره ترټولومهمه خبره داده چې خلک داميرورتياومني اودهغه په امارت باندې يوه خوله وي لکه چې په يوروايت کې راغلي دي چې ابوبکرصديق رضی الله عنه انصارو رضی الله عنهم ته مخ واړوی اوداسې يې ورته وفرمايل :

يامعشر الانصار انا والله ماننکرفضلکم ولابلائکم فی اسلام ولاحقکم الواجب علينا ولکن قدعرفتم ان هذا الحی من قريش بمنزلة من العرب فليس بها غيرهم وان العرب لن يجتمع الاعلی رجل منهم فنحن الامراء وانتم الوزراء فاتقوا الله ولاتصدعوا الاسلام ولاتکونوا اول من احدث فی اسلام الاوقدرضيت لکم احدهذين الرجلين ای لعمر ولابی عبيده فايهما بايعتم فهولکم ثقة .. الحديث (۱)

اې انصارو رضی الله عنهم قسم په الله جل جلاله موږستاسې دغوره والي اودااسلام دخدمت اومرستې څخه اوستاسودواجب حق څخه منکرنه يو مګر تاسوښه پوهيږئ چې دقريشودقبيلې چې کوم عزت اومرتبه اومخوره مرتبه ده په عربوکې هغه بل څوک نه لري اودعربواوسيدونکي دقريشوله قبيلې پرته دبل سړي په امارت باندې قناعت نه کوي اوپرته له اتفاق دهيواد چارې نه سي چليدای ځکه به نوقريش اميران وي اوانصار رضی الله عنهم به وزيران وي نواې انصارو رضی الله عنهم له الله جل جلاله څخه وويريږئ اوپه اسلام کې ترټولولومړی بدعت پيداکونکي مه ګرزئ اوزمارايه داده چې دخلافت اوامارت لپاره له دې دوويو غوره کې يوعمرفاروق رضی الله عنه اوبل ابوعبيدة بن الجراح رضی الله عنه په دوئ کې چې دهريوه په لاس تاسوبيعت وکې هغه به ستاسودباور اوډاډ وړاميروی .

(۱) کنزالعمال جلد ۳ /ص/ ۱۳۹

سیف لودین کتابتون

دابوبکرصدیق رضی الله عنه له دې زړه راښکونکي تقریرڅخه وروسته حباب بن المنذربن الجموح رضی الله عنه ولاړسو اووې ویل چی ښه به داوی چی یو امیرله موږڅخه وی اویوله تاسوڅخه وی ابوبکرصدیق رضی الله عنه وفرمایل چی دنبی کریم ﷺ ارشاددی (الائمة من قریش) خلفاء اوامیران به له قریشوڅخه وی ،، علامه ملاعلی قاری وایې چی داحدیث صحیح دی اودڅلویښتو صحابه کرام رضی الله عنهم څخه روایت سوی دی کذافی شرح الشمائل للعلامة القاری (۱)

محمدبن اسحق روایت کوی چی ابوبکرصدیق رضی الله عنه په دې وخت کې داسی وفرمایل :

انه لایحل ان یکون للمسلمین امیران فانه مهمایکن ذلکم یختلف امرهم واحکامهم وتتفرق جماعتهم ویتنازعون فیمابینهم هنالک تترک السنة وتظهرالبدعة وتعظم الفتنة ولیس لاحدعلی ذلک صلاح وان هذاالامر فی قریش ماأطاعوا الله واستقاموا علی امره قدبلغکم ذلک اوسمعتموه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم ولاتنازعوفتفشلوا وتذهب ریحکم واصبروا ان الله مع الصابرین فنحن الامراء وانتم الوزراء اخواننا فی الدین وانصارناعلیه (۲)

ربښتیاهم داکارییخی ژوانه دی چی دمسلمانانودوه امیران وی په دې سره دمسلمانانوپه کاروااحکاموکې اختلاف پیداکیږی اوپه جماعت کې بیلوالی راځي اوپه خپل منځ جنګ جګړی راځي اوپه هغه وخت کې بیاسنت پاته کیږی اوبدعت به ښکاره کیږی اویوه لویه فتنه به راپورته کیږی په دې کې دمسلمانانوهیڅ خیرنسته چی دمسلمانانودوه امیران سی اوخلافت به دقریشووی ترڅوپوری چی قریش دالله جل جلاله پیروی کوی اودهغه په حکم باندی عمل کوی اوداحدیث به تاسوته رسیدلی وی یابه تاسوپه خپله له نبی کریم ﷺ څخه اوریدلی وی چی په خپل مینځ کې جګړی مه کوی بیغیرته به سی اوکمزوری به سی اوستاسودبدبه اوعزت به ختم سی اوصبرکوي الله تعالی له صبرکونکوسره دی نوتردی وروسته به هم موږامیران یو اوتاسوبه زموږوزیران یاست تاسووزموږدینی ورونه یاست اوپه دین کې موله موږسره مرسته کړی ده ،

عمرفاروق رضی الله عنه وویل (۳) دافسوز خبره ده دوې توری په یوه تیکی نه یوځای کیږی اودیوی ښځي دوه میړونه نه سی کیدای یعنی دیوه هیواد دوه امیران څنګه سره چلیدای سی دعمرفاروق رضی الله عنه ځواب عقلی وو اودابوبکرصدیق رضی الله عنه ځواب نقلی وو دنبی کریم ﷺ

(۱) کنزالعمال جلد ۳ /ص /۱۳۹)

(۲) سیرة حلبیه جلد ۳ /ص /۳۵۸)

(۳) داکلام په سیرت حلبیه کې ذکرسوی دی اصل عبارت داسی دی وفی روایة ای عن عمر رضی الله عنه قلت سیفان فی غمرواحدلایکونان هیهات لایجتمع فحلان فی معرس کذافی سیرة الحلبیه جلد۳/ص/ ۳۵۸. ووقع فی حدیث سالم بن عبید رضی الله عنه عندالبزار وغیره فی قصة الوفات فقالت الانصار رضی الله عنهم منا امیرومنکم امیرفقال عمر رضی الله عنه واخذبیدابی بکر رضی الله عنه اسیفان فی غمدواحدلایصطلحان الخ کذافی فتح الباری جلد۷/ص/۲۵مناقب ابی بکر رضی الله عنه

سیف لودین کتابتون

صریح حدیث یې نقل کړله دی وینا وروسته بشربن سعد انصاری ﷺ وویل ماهم داحدیث له نبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی اونوروانصاروﷺ اومهاجرینوﷺ هم ددې تصدیق وکې حباب بن منذر ﷺ اونوروانصاروﷺ چی په خپل خلافت باندی ټینګارکوی دهغوئ هم ددې حدیث په اوریدوسره خپل نظربدل سو اوپه انصاروﷺ کې چی دخلافت کومه خبره راپورته سوی وه هغه یې پرینښوده ټول دخاموشۍ په حالت کې سو ، زیدبن ثابت ﷺ دوحی لیکونکې وویل چی رسول الله ﷺ دمهاجرینوﷺ څخه وو ځکه خلیفه هم بایدمهاجروی لکه څنګه چی موږدنبی کریم ﷺ مرستندویان اوملګری وو دغه رنګه به موږدرسول الله ﷺ دخلیفه مرستندویان اوملګری یووروسته یې دابوبکرصدیق ﷺ لاس ونیوی وې ویل چی داستاسو خلیفه دی له ده سره بیعت وکړی (۱)

سعدبن عباده ﷺ دابوبکرصدیق ﷺ دخبری تائیدکوی !

قال الامام الاحمد حدثنا عفانا حدثنا ابوعوانة عن داؤد بن عبدالله عن حمید عبدالرحمن قال توفی رسول الله صلی الله علیه وسلم وابوبکرﷺ فی صائفة من المدینة قال فجاء فکشف عن وجهه فقبله وقال فداک ابی وامی ماطیبک حیا ومیتا مات محمدﷺ ورب الکعبة فذکر الحدیث قال فانطلق ابوبکرﷺ وعمرﷺ یتعادان حتی اتوهم فتکلم ابوبکرﷺ فلم یترک شیئاً انزل فی الانصار الاذکره قال ولقد علمتم ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لوسلک الناس وادیا وسلکت الانصاروادیا لسلکت وادی الانصار لقد علمت (۲) یاسعد ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال وانت قاعد قریش ولاة هذا الامر خیرالناس تبع لبرهم وفاجرهم تبع لفاجرهم فقال له سعد صدقت نحن الوزراء وانتم الامراء)

ژباړه : امام احمدابن حنبل رحمة الله علیه په خپل مسندکې روایت کوی چی کله رسو ل الله ﷺ وفات سو نوابوبکرصدیق ﷺ په دغه وخت کې په خپل کورکې وو سمدستی راغلی اودنبی کریم ﷺ له مخ مبارک څخه یې پټوپورته کې اوښکل یې کې اوصحابه کرام ﷺ ته یې تسلی ورکړه وروسته چی کله داخبرورته راوسیدی چی انصارﷺ په سقیفه کې راغونډ سوی دی نوابوبکرصدیق ﷺ اوعمرفاروق ﷺ ډیرچټک هلته ورسیدل کله چی هلته ورغلونوابوبکرصدیق ﷺ ویناوکړه په هغه وینا کې یې دانصاروﷺ ټول صفتونه څه چی نازل سوی وو هغه ټول یې بیان کړه هیڅ یې هم نه پرینښودل چی په دغه مجلس کې یې نه وی بیان کړی وروسته یې وویل چی تاسوپه دې خبریاست چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی که خلک پریوه لاره روان سی اوانصارﷺ پربله لاره نوزه به دانصاروﷺ په لاره روانیږم اوقسم په الله ﷻ ای سعدﷺ ته په دې ښه خبریې چی یوه ورځ نبی کریم ﷺ وفرمایل چی قریش دخلافت والیان اوواکداران دی دقریشوښه دښوتابعدار دی اوبدیې دبدو تابعدار دی ، اوته هم په دې مجلس کې ناست وی ، سعدبن عباده ﷺ ابوبکرصدیق ﷺ ته وویل تاربنتیا وویل موږبه وزیران یو اوتاسوبه امیران یاست .

---

(۱) البدایه والنهایه جلد ۵ /ص / ۲۴۷)

(۲) بدلقد علمت ...

سيف لودين كتابتون

په دې روايت كې ښكاره داراغلي دي چې ابوبكرصديق ؓ سعدبن عباده ؓ ته قسم وركړ چې ته ناست وې چې نبي كريم ﷺ وفرمايل چې دخلافت واګې به له قريشوسره وي سعد ؓ وويل لقدصدقت په دې سره يې دابوبكرصديق ؓ تصديق وكړ ځكه حافظ ابن كثيرددې روايت لپاره يوخاص عنوان ايښې دى هغه داسې (ذكراعتراف سعدبن عباده ؓ بصحة مقالة الصديق يوم السقيفة)

له عبدالله بن مسعود ؓ څخه روايت سوى دى چې كله انصارو ؓ داوويل چې (منا امير و منكم امير) يو اميربه له موږ څخه وي اوبل به له تاسو څخه وي ، نوعمرفاروق ؓ وويل اې انصارو ؓ تاسوپه دې خبرياست چې نبي كريم ﷺ حكم كړى دى چې ابوبكرصديق ؓ دې خلكوته لمونځ وركړي نوتاسوڅنګه ترابوبكرصديق ؓ مخ ته كيداى سئ انصارو ؓ وويل الله ته پناه ورووړو چې موږ ترابوبكرصديق ؓ مخ ته سو (رواه النسائى وابويعلى والحاكم وصحيح عن ابن مسعود ؓ كذافى شرح الشمائل للعلامة القارى جلد ٢ /ص /٢١٩)

دعمرفاوروق ؓ مطلب داوو چې نبي كريم ﷺ په ځانګړى ډول په ډيرټينګارسره دابوبكرصديق ؓ دامامت حكم كړى وو اوخپل نائب اوخليفه يې ګرزولى وو نوپه دې دليل ابوبكرصديق ؓ ترټولوغوره اومخكې دى ..

اودشمائل ترمذى په يو روايت كې راغلى دى (١) چې كله انصارو ؓ داوويل چې (منا امير ومنكم امير) نوپه همدى وخت كې **عمرفاروق** ؓ **دابوبكرصديق** ؓ **درې خويونه بيان كړه** اواعلان يې وكى چې وواياست چې دادرې خصوصيته له ابوبكرصديق ؓ پرته په بل چاكې سته (**اول**) ځانګړتياداده چې ابوبكرصديق ؓ ته په قرآن كريم (ثانى اثنين اذهمافى الغار) ويل سوى دى ابوبكرصديق ؓ دنبي كريم ﷺ دويم دى اودهغه دغارثور ملګرى دى (**دويم**) داچې ابوبكرصديق ؓ ته يې خاص ملګرى اوصاحب ويلى دى لكه په دې آيت كې راغلى دى (اذيقول لصاحبه لاتحزن) (**دريم**) داچې الله تعالى دهغه لپاره معيت ملګرى

---

(١) وفى رواية النسائى وابى يعلى والحاكم وصححه عن ابن مسعود ؓ انه قال لماقالت الانصار ؓ منا امير ومنكم امير فاتهم عمر بن الخطاب ؓ فقال يامعشر الانصار الستم تعلمون ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قدامر ابابكر ؓ ان يؤم الناس فايكم يطيب نفساً ان يتقدم على ابى بكر ؓ فقالت الانصار ؓ نعوذبالله ان نتقدم على ابى بكر ؓ كذافى شرح الشمائل.. فقالت الانصار منا امير ومنكم اميرفقال عمر ؓ من له مثل هذه لصاحبه لاتحزن ان الله معنا الحديث فاثبت الله تعالى فى هذالاية ثلاثة فضائل لابى بكر ؓ الاولى ثانى اثنين والثانية اثبات الصحبة له لقوله تعالى فى هذه الاية .. اذيقول لصاحبه لاتحزن الثالثة اثبات المعية فى قوله تعالى (ان الله معنا) فاثباته تعالى تلك الفضائل الثلاث نص القرآن يؤذن باحقيته للخلافة كذافى شرح الشمائل للشيخ عبدالرؤف المنادى والعلامة القارى جلد٢/ص/٢٢٠. وقال الحافظ العسقلانى فى الفتح جلد٧/ص/٢٥ ووقع فى حديث سالم بن عبيد عند البزار وغيره فى قصة الوفاة فقالت الانصار ؓ منا امير ومنكم اميرفقال عمر ؓ واخذبيدابى بكر ؓ اسيفان فى غمدواحدلايصطلحان واخذبيدابى بكر ؓ فقال من له هذه الثلاثة اذهمافى الغار- من هما اذيقول لصاحبه .. من صاحبه ... لاتحزن ان الله معنا... مع من ثم بسط يده فبايعه ثم قال بايعوه فبايعه الناس فتح البارى جلد٧/ص/٢٥ مناقب

سیف لودین کتابتون

هروخت کړې ده هغه داسې (وهومعكم انيما كنتم) دادرې ځانګړتياوې دابوبكرصديق ﵁ دقرآن په نص ثابت دی چې په دې اشاره ودې ته ده چې ابوبكرصديق ﵁ ترټولوغوره دی اوترټولودخلافت حقداره دی (كذافى شرح الشمائل للعلامة القارى الشيخ المناوى جلد ۲ /ص/ ۲۲۰) عمرفاروق ﵁ دابوبكرصديق ﵁ دفضيلت په دلائلوکې يوائې په درې فضيلتوباندې بسنه وکړه چې هغه دلمرپه څيرروښانه دي وروسته دآيت له سياق اوسباق څخه دابوبكرصديق ﵁ دغوره والي نوردلائل هم راوزي خوعمرفاروق ﵁ يوائې دغه درې دلائل وړاندې کړه پوره آيت داسې دی : ﴿إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ (۴۰ آيت سورة التوبه) (لومړی) دليل په دې آيت کې (إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا) له ابوبكرصديق ﵁ پرته پرټولو دمرستې نه کولوله امله ملامتياوويل سوه يوائې ابوبكرصديق ﵁ ځنې وتلی دی ځکه هغه خوله نبی کريم ﷺ سره ملګری وو اوله هغه سره يې مرسته وکړه (دويم دليل) دادی چې دالله ﷻ له لوري څخه دنبی کريم ﷺ مرسته ابوبكرصديق ﵁ ته هم ورسيده ځکه ابوبكرصديق ﵁ له نبی کريم ﷺ سره يوځای وو نولکه څنګه چې له نبی کريم ﷺ سره دالله ﷻ مرسته وسوه دغه رنګه دابوبكرصديق ﵁ سره هم مرسته وسوه (دريم دليل) دادی چې په (فَأَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ) کې دعليه ضميرپه صحيح قول باندی ابوبكرصديق ﵁ ته راجع دی يعنی الله تعالی خپل سکون اوډاډ په ابوبكرصديق ﵁ باندی نازل کې ځکه ابوبكرصديق ﵁ په نبي کريم ﷺ باندی ډيرغمجن اوخفه وو الله تعالی په غارثورکې پرده خاص سکون اوډاډ نازل کې (څلورم دليل) دادی چې په دې آيت کې ابوبكرصديق ﵁ ته (ثَانِيَ اثْنَيْنِ) ويلي دی ودې ته اشاره ده چې ابوبكرصديق ﵁ په عملي اوعلمي کمالاتوکې درسول الله ﷺ دويم اونائب دی اودنژديکت کې اودغارپه انوارو اوتجلياتوکې دنبی کريم ﷺ ملګری دی .. (پنځم دليل) دادی چې په (إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ) کې له صاحب څخه په اجماع دمفسرينو ابوبكرصديق ﵁ مراددی الله تعالی په قرآن کريم په ځانګړې ډول ابوبكرصديق ﵁ ته دنبی کريم ﷺ صاحب يعنی خاص ملګری اوربښتينی دوست ويلی دی ودې ته اشاره ده چې دابوبكرصديق ﵁ ملګرتيااودوستی به تل پاته وی ددنياپه ژوندکې به دهغه دوست اومحبوب وی اوپه عالم برزخ اوآخرت اودحشرپه ميدان اوحوض کوثرباندی به هم له هغه سره يوځای وی اوپه جنت کې به هم له هغه سره ملګری وی ځکه يوشميرعلماؤ ويلی دی چې هرڅوک چې دابوبكرصديق ﵁ له صحابی کيدو څخه انکاروکوی هغه کافردی ځکه دالله تعالی ددې قول (لِصَاحِبِهِ) څخه منکردی (شپږم دليل) دادی چې دابوبكرصديق ﵁ په هکله يې وفرمايل (لَا تَحْزَنْ) ای ابوبكر ﵁ ته مه خفه کيږه ، داخبره ددې دليل ده چې

سیف لودین کتابتون

(اووم دليل) دادی چې دلاتحزن څخه وروسته يې وفرمايل (إِنَّ اللهَ مَعَنَا) دالله تعالى دخاص ملګرتيازيرى يې ورکړ چې ددې تفصيل دهجرت په بيان کې تيرسوی دی ، هذاکله توضيح ماافاده العلامة القاری فی شرح الشمائل (شرح شمائل ج ۲ /ص /۲۲۰)

بيرته خپلى خبرى ته ګرزو: وروسته ابوبکرصديق ﷛ وويل چې دادی عمرفاروق ﷛ اوعبيده بن الجراح ﷛ دواړه دلته شته په دې دواړوکې چې هريوستاسوخوښ وی له هغه سره بيعت وکوي عمرفاروق ﷛ اوابوعبيده ﷛ وويل قسم په الله ﷻ که داهيڅ امکان لری چې ته دې موجودې اوموږته دې خلافت راکړل سی ته په ټولو مهاجرينو ﷛ کې غوره يې اولمونځ چې ددين ستن ده اوداسلام ترټولولوړاوغوره رکن دی په دې کې ته درسول الله ﷺ قائم مقام اوخليفه وی اې ابوبکرصديق ﷛ خپل لاس راوړاندی که موږستاسره بيعت کوو ..

په يوروايت کې راغلی دی چې ابوبکرصديق ﷛ عمرفاروق ﷛ ته وويل چې لاس راوړاندی کړه چې ستاسره بيعت وکړم عمرفاروق ﷛ ابوبکرصديق ﷛ ته وويل چې ته ترټولوغوره يې ابوبکرصديق ﷛ په ځواب کې ورته وويل (انت اقوی منی) ته ترماډير قوی يې په دې کې خبره يوی اوبلی خواته کيده آخرعمرفاروق ﷛ وويل (ان قوتی لک مع فضلک) يعنی زماقوت به ستاله غوره والی سره يوځای کارکوی يعنی غوره خواميروی اوقوی دهغه وزيروی (کذافی شرح الشمائل للعلامة القاری)

وروسته بياعمرفاروق ﷛ ابوبکرصديق ﷛ ته وويل لاس راوړاندی که چې بيعت درسره وکړو دعمرفاروق ﷛ اوابوبکرصديق ﷛ له ټينګاره وروسته بشيربن سعدانصاری ﷛ ولاړسو ترټولومخکې يې له ابوبکرصديق ﷛ سره بيعت وکي بياعمرفاروق ﷛ اوبياامين الامة ابوعبيده بن الجراح ﷛ بيعت ورسره وکي کله چې حباب بن منذر ﷛ وليدل چې بشيربن سعد ﷛ له ابوبکرصديق ﷛ سره بيعت وکی نوموړی وويل اې بشير ﷛ تادخپلوئ لحاظ ونه ساتتی اودخپل آکادزوی سعدبن عباده ﷛ سره دې بيعت ونه کي اوتاله ده سره دکين له کبله بيعت ونه کړ، بشيربن سعد ﷛ په ځواب کې ورته وويل چې قسم په الله ﷻ که داسی خبره وی بلکې خبره داسی ده چې زه دمهاجرينو څخه دهغوئ حق اخيستل نه غواړم اوبل داچې داوس قبيله دخزرج قبيلی امارت نه منی دبشيربن سعد ﷛ داويره وه چې که له سعدبن عباده ﷛ سره بيعت وسی اوامارت په خزرج کې راسی نوبيابه اوس قبيله له دې غوروالی څخه هيڅکله برخمنه نه سی اسيدبن حضير ﷛ داوس قبيلی مشر هلته ناست وو هغه داوس قبيلی خلکوته وويل ولاړسی له ابوبکرصديق ﷛ په لاس بيعت وکي خلک ولاړسو اوله ابوبکرصديق ﷛ سره په لاس بيعت وکي ددوئ په بيعت سره دسعدبن عباده ﷛ اودخزرج قبيلی اميدونه پای ته ورسيدل تردی وروسته له څلورو

طرفو څخه صحابه کرام ﷺ دابوبکرصدیق ﷺ دبیعت لپاره راولاړسو دومره ازدحام سو چې دپښې دایښودلو ځای نه وو سعدبن عباده ﷺ په یوګدۍ ناست وو یوسړي وویل وګوری هسی نه چې سعدیابکریو مړنه شي ،عمرفاروق ﷺ وویل الله ﷻ دې سعدمړکي سعد ﷺ ولاړسو کورته ولاړی اوخلک به راتلو له ابوبکرصدیق ﷺ سره به یې بیعت کوی بیرته به کوروته ستنیدل ، **ددې ځای له بیعت وروسته دټولوصحابه کرام ﷺ بیعت !**

لنډه داچې ابوبکرصدیق ﷺ دمهاجرینو ﷺ اوانصارو ﷺ په اجماع سره خلیفه وټاکل سو اوله بیعت څخه وروسته غونډه پای ته ورسیده دابیعت ددوشنبې په ماښام وسو په کومه ورځ چې نبی کریم ﷺ وفات سو یعنی دلومړۍ خور ۱۲ دولسمه کال یوولسم ۱۱ هجری ددوشنبې په ماښام داځانګړی بیعت وسو اوعام بیعت بیادویمه ورځ دسه شنبې په ورځ په مسجدنبوی کې په منبرباندی وسو (۱) ...دسقیفه دبیعت په دویمه ورځ یعنی دسه شنبې په ورځ ټول صحابه کرام ﷺ په مسجدنبوی کې راټول سوپه دوئ کې مشران صحابه کرام ﷺ که مهاجر ﷺ وو اوکه انصار ﷺ وو ټولوبیعت وکي لومړی عمرفاروق ﷺ په منبرکینستی اویوڅولنډی خوجامعی خبری یې وکړی اوابوبکرصدیق ﷺ ناست وو **دعمرفاوق ﷺ خطبه ترعام بیعت کولومخکي !** عمرفاروق ﷺ وویل زماهیله وه چې درسول الله ﷺ وفات به ترموږټولووروسته وی اوس که محمدصلی الله علیه وسلم وفات سوی دی نوان شاء الله په دین کې به هیڅ زیان نه راځي ځکه الله تعالی زموږپه مینځ کې لاربښود اورڼا (قرآن) پری ایښي دی چې زموږ دسمی لاری لامل دی اوله رسول الله ﷺ څخه وروسته ابوبکرصدیق ﷺ په موږکې شته ژوندی دی او هغه درسول الله ﷺ دغارثورملګری اوثانی اثنین دی له دوڅخه یودی اودهغه ځانګړی مخلص دوست دی په ټولومسلمانانوکې ابوبکرصدیق ﷺ دټولوکارودتصرف کولوحقداره دی نوای مسلمانانوولاړسی اوله هغه سره په لاس بیعت وکي (۲) په یوروایت کې راځی چې عمرفاروق ﷺ وفرمایل ای مسلمانانوواياست چې له ابوبکرصدیق ﷺ پرته بل څوک دی چې هغه ته الله ﷻ (ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ) ویلی دی اوهغه څوک دی چې الله تعالی دخپل رسول ﷺ دخاص ملګری ورته ویلی دی (إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ) اوهغه څوک دی چې الله تعالی په ځانګړی ډول باندی له هغه سره وی (إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا) لنډه داچې دهغه غوره صفات اوخویونه یې بیان کړه چې ترآسمان لاندی دځمکی پرسرهیڅ یوبل داسی څوک نسته چې په هغه کې دی داغوره صفات وی پرته له ابوبکرصدیق ﷺ نوله هغه سره دخلافت په حق

(۱) قال الحافظ ابن كثير قلت كان هذا (اى امر البيعة فى السقيفة فى بقية يوم الاثنين فلماكان الغد صبحه يوم الثلاثاء اجتماع الناس فى المسجد فتمت البيعة من المهاجرين والانصار ﷺ تامة وكان ذلك قبل تجهيز رسول الله صلى الله عليه وسلم تسليما كذا فى البدايه والنهايه جلد۵/ص/۲۲۸.

(۲) قال البخاری انبأ نا ابراهيم بن موسى ثناهشام عن الزهرى اخبرنى انس بن مالك ﷺ انه سمع خطبة عمر ﷺ الاخيرة حين جلس على المنبر وذلك الغد من يوم توفى رسول الله صلى الله عليه وسلم وابوبكر ﷺ صامت لايتكلمه قال كنت ارجوا ان يعيش رسول الله صلى الله عليه وسلم حتى يدبرنا يريد بذلك ... وقبل ذلك فى سقيفة بنى ساعدة وكانت بيعة العامة على المنبر

حق کې څوک شریک کیدای سی ښه پوه سی چې چاته الله تعالی ثانی اثنین ویلی دی هغه بیشکه لاثانی دی نواې مسلمانانو تاسو دې لاثانی ته رامخکې سی اوله هغه سره په لاس بیعت وکوی د رسول الله ﷺ دلاس مبارک څخه وروسته دادویم لاس دی چې دده دویم بیا نسته

عمرفاروق ﷺ له ابوبکرصدیق ﷺ څخه دبیعت اخیستولپاره غوښتنه وکړه !

عمرفاروق ﷺ چې کله له خطبی خلاص سو نوابوبکرصدیق ﷺ ته یې وویل (اسعَد المنبر) منبرته پورته شه ؟ ابوبکرصدیق ﷺ لږځنډوکي مگر عمرفاروقَ ﷺ بیابیاټینگارېری وکوی وروسته ابوبکرصدیق ﷺ په منبرباندی کینستی اوټولو صحابه کرام ﷺ له ده سره په لاس بیعت وکی (۱)

تربیعت وروسته دابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه لومړنی خطبه !

ابوبکرصدیق ﷺ دعمرفاروق ﷺ په ټینگارسره په منبرباندی کینستی مگر پرکومه زینه چې به نبی کریم ﷺ کینستی ترهغه لاندی په دویمه زینه باندی کینستی اوله عامومسلمانانویې بیعت واخیستی له بیعت چې کله خلاص سو نوحاضرینوته یې داسی وفرمایل : امابعد ایهاالناس فانی قدولیت علیکم ولست بخیرکم فان احسنت فاعینونی وان اسأت فقومونی الصدق امانة والکذب خیانة والضعیف فیکم قوی عندی حتی ازیح علته ان شاء الله تعالی والقوی فیکم ضعیف حتی آخذمنه الحق ان شاء الله تعالی لایدع قوم الجهاد فی سبیل الله الاضربهم الله بالذل ولاتشیع فی قوم قط الفاحشة الاعمهم الله بالبلاء اطیعونی ماطعت الله ورسوله فاذاعصیت الله ورسوله فلاطاعة علیکم قوموا الی صلاتکم یرحمکم الله (وهذااسنادصحیح کذافی البدایه والنهایه (۲)

ژباړه : اې خلکوماته ستاسوچاری اوامارت راوسپارل سو اوزه ترتاسو غوره نه یم که ماښه کارونه کول نوتاسوبه زمامرسته کوي اوکه کوم ناوړه کاروو نوتاسوبه ماسمی لاری ته راولی رښتیاویل امانت دی اودروغ ویل خیانت دی اوکوم څوک چې په تاسوکې کمزوری وی هغه زماپه نزدقوی دی تردی چې زه دهغه تکلیف لیری نه کړم یعنی دهغه حق وانه خلم څوک چې په تاسوکې زورور دی هغه زماپه نزد کمزوری دی تردی پوری چې زه له هغه څخه دکمزوری حق وانه خلم کوم قوم چې دالله ﷻ په لاره کې جهادپریږدی الله ﷻ به هغوئ ذلیل کوی اوکوم قوم چې په هغه کې فحاشی عامه سی الله ﷻ یې په مصیبتواخته کوی نوکه ماد الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ پیروی کوله تاسوزماخبره منی اوکه زه دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ نافرمانی کوم نوپه تاسوباندی زماامرمنل نسته اوس دلمانځه وخت دی ولاړ سی الله ﷻ دې پرتاسومهربانی وکړی آمین یارب العالمین)

(۱) اصل عبارت داسی دی قال الزهری عن انس بن مالک ﷺ سمعت عمر ﷺ یقول یومئذلابی بکر ﷺ اصعدالمنبرفلم یزل به حتی صعدالمنبرفبایعه الناس عامة کذافی البدایه والنهایه جلد۵/ص/۲۴۸)

(۲) البدایه والنهایه جلد ۵ /ص/ ۲۴۸، شرح شمائل جلد ۲ /ص/ ۲۲۱، کنزالعمال جلد ۲ /ص/ ۲۲۲)

سيف لودين كتابتون

موسى بن عقبه په مغازى کې اوحاکم په مستدرک کې له عبدالرحمن بن عوف ﷛ څخه روايت کړى دى چې ابوبکرصديق ﷛ داسى خطبه ولوسته اوحاکم دې ته صحيح ويلى دى: خطب ابوبکر ﷛ فقال والله ماکنت حريصا على الامارة يوماوليلة قط ولاکنت راغباً ولاسألتها الله فى سروعلانية ولکنى لشفقت من الفتنة ومالى من الامارة من راحة لقدقلدت امراعظيماً مالى به من طاقة ولايد الابتقوية الله (کذافى شرح الشمائل للعلامة القارى (١)

ژباړه: ابوبکرصديق ﷛ خطبه ولوسته اوداسى يې وفرمايل چې قسم په الله ﷻ که ماهيڅ وخت دامارت اوخلافت هيڅ وخت غوښتنه کړى وى نه په ورځ کې اونه په شپه کې اونه ومى وهغه خواته ميلان کړى دى اونه مې له الله تعالى څخه دعاء غوښتى ده نه په پټه نه په ښکاره مګرماله دى ويرى چې هسى نه يوه فتنه راپورته سى په ناخوښه زړه مې امارت ومنى اوماته په امارت کې هيڅ آرام نسته زماپرغاړه باندى يولوى دروندبار واچول سو چې زه يې دپورته کولوتوان هم نلرم مګر داچې الله تعالى زمامرسته وکړى..

اودکنزالعمال په کتاب الخلافة کې دابوبکرصديق ﷛ خطبه په داسى الفاظورانقل سوى عن ابى بکر ﷛ انه قال ياايها الناس ان کنتم ظننتم انى اخذت خلافتکم رغبة فيها اوارادة استيثار عليکم وعلى المسلمين فلا والذى نفسى بيده مااخذتهارغبة فيها ولااستيثارا عليکم ولاحرصت عليها ليلة ولاعلانية ولقدقلدت امراعظيما لاطاقة لى به الاان يعين الله تعالى ولووددت انها الى اى اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم على ان يعدل فيها فهى اليکم رد ولابيعة لکم عندى فادفعوا لمن احببتم فانماانارجل منکم (رواه ابونعيم فى فضائل الصحابة ﷺ)

ژباړه: ابوبکرصديق ﷛ داسى خطبه ولوسته چې اې خلکوکه ستاسودافکروى چې ماخلافت په دې وجه قبول کړى دى چې زه دخلافت اوامارت سره مينه لرم يا پرمسلمانانوباندى مشرى اولوى والى خوښوم نوقسم په هغه الله ﷻ باندى چې دهغه په لاس کې زماروح دى ماپه دې نيت سره خلافت نه دى منلى قسم په الله ﷻ که ماهيڅ وخت نه دشپى اونه دورځى په يوه ساعت کې هيڅ وخت دامارت غوښتنه کړى وى نه په پټه اونه په ښکاره ماله الله ﷻ څخه دعاء غوښتى وى زماهيله خو داده چې له ماپرته دې بل چاته دامنصب وسپارل سى چې هغه په مسلمانانوکې عدل وکړى اواوس تاسوته داوايم چې ستاسو بيعت تاسوته بيرته سپارم اوکوم بيعت چې موله ماسره کړى دى هغه ټول ختموم اوس چې ستاسوخوښه وى امارت اوخلافت هغه ته وسپارى زه هم له تاسويوتن يم والسلام)

(١) شرح الشمائل جلد ٢/ص/ ٢٢٢)

(٢) کنزالعمال جلد ٣/ص/١٣١ کتاب الخلافة)

سيف لودين كتابتون

دعلی کرم الله وجهه بيعت له ابوبکرصديق رضی الله تعالی عنه سره !

کله چې صحابه کرام ؓ بيعت وکې نو ابوبکرصديق ؓ وصحابه کرام ؓ ته وکتل په دوئ کې يې علی ؓ اوزبير ؓ ونه ليدل وې فرمايل چې زه په دې غونډه کې علی ؓ اوزبير ؓ نه وينم هغه هم راوغواړی له انصارو ؓ څخه يو څوک ولاړسو او علی ؓ يې راوغوښتی کله چې هغه راغلی ابوبکرصديق ؓ ورته وويل اې درسول الله ﷺ دا کاکازويه اودهغه زومه، آياته دمسلمانانو په مينځ کې بيلوالی راولې اوزبير ؓ ته يې هم همداسی وويل ؟ علی ؓ اوزبير ؓ وويل چې اې درسول الله ﷺ خليفه موږ مه ملامتوه موږ په مسلمانانو کې هيڅ بيلوالی نه غواړو او خپل عذريې داسی بيان کی :

قال علی ؓ والزبير ؓ ماغضبنا الا لانا اخرنا عن المشورة وانانری ابابکر ؓ احق الناس بها انه صاحب الغار وانالنعرف شرفه وخيره ولقدامره رسول الله صلی الله عليه وسلم ان يصلی بالناس وهو حی (اسنادجيد ولله الحمدوالمنة (۱) ژباړه : علی ؓ اوزبير ؓ وويل موږ په هيڅ شئ باندی خفه نه يو يوائی داکيله موده چې له موږسره دخلافت په اړه مشوره نه وسوه اوپردې يقين لرو چې دخلافت ډير لائق اوحقدار ترټولو ابکرصديق ؓ دی هغه دنبی کريم ﷺ دغارملګری دی اوموږته دهغه غوره والی اودهغه ښه والی ښه معلوم دی اوږښتيا هم نبی کريم ﷺ په خپل ژوندی کې هغه دلمانځه لپاره امام ټاکلی وو چې خلکوته لمنځونه ورکړی داهم دهغه دغوره والی اوښه والی دليل دی ،، ددې روايت سندډير کره دی ، البدايه والنهايه وازالة الخفاء وفی رواية انه رضيه لديننا افلانرضا لدنيانا) اوپه يوه روايت کې داسی دی چې علی ؓ وفرمايل چې رسول الله ﷺ ابوبکرصديق ؓ زموږددين لپاره خوښ کړی دی نو آيا موږ به ابوبکرصديق ؓ ددنيالپاره نه غوره کوو ،، دوئ دواړو داخبره وکړه وروسته يې له ابوبکرصديق ؓ سره په لاس بيعت وکې (اخرجه الحاکم وازالة الخفاء جلد ۲ /ص/ ۲۷) ابوبکرصديق ؓ له علی ؓ اوزبير ؓ څخه معذرت وغوښتی اوورته وې فرمايل چې قسم په الله ﷻ که مادامارت يوه ذره کوښښ هم کړی وی اونه می يو وخت په زړه کې مينه ورسره پيداسوی ده اونه مايو وخت له الله تعالی څخه نه په پټه اونه په ښکاره دامارت غوښتنه کړی ده يوائې دفتنی د راپورته کيدو له ويری می داکار وکې چې که وځنډيږی هسی نه چې په مسلمانانو کې فتنه راپورته سی .. (۱)

(۱) البدايه والنهاية جلد٥/ص/ ٢٥٠.. ازالة الخفاء جلد١/ص/ ٢١٢)

(٢) قال الامام احمدحدثناعلی بن عباس ثنا الوليدبن مسلم اخبرنی يزيدبن سعيدعن عبدالملک بن عميرعن رافع الطائی رفيق ابی بکرالصديق ؓ فی غزوة ذات السلاسل قالت وسألته عماقيل فی بيعتهم فقال وهو يحدثه عماتقاولت به الانصار ؓ وماکلمهم به وکلم به عمربن الخطاب ؓ وماذکرهم به من امامتی اياهم بامررسول الله صلی الله عليه وسلم فی مرضه فبايعوالی لذلک وقبلتهامنهم وتخوفت ان تکون فتنة بعدهاردة وهذااسنادجيدقوی ومعنی هذاانه ؓ انماقبل الامامة تخوفاان يقع فتنة اربی من ترک قبولهارضی الله عنه وارضاه کذافی البدايه والنهايه جلد٥/ص/ ٢٤٧) اوپه يوروايت کې راځی (فقال رأی ابوبکر ؓ ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قبض والناس حديث عهدبکفر فخفت عليهم ان يرتدوا وان يختلفوا فدخلت فيها وانا کاره ولم يزل بی اصحابی فلم يعتذرحتی عذرته (رواه ابن راهويه والعدنی والبغوی وابن خزيمة کذافی کنز العمال جلد٣/ص/ ١٣٥)

سیف لودین کتابتون

شیعه ګان وايي چې له علی ؓ څخه نه چاپوښتنه وکړه اونه يې ورو غوښتی نو شیعه ګان دی داووايې چې له ابوبکر صدیق ؓ اوعمر فاروق ؓ څخه چاپوښتنه وکړه اوچاوروغوښتل دوئ خو يوائې ددې لپاره ورغلی وو چې هسی نه چې په مسلمانانو کې يوه فتنه راپورته سی اوبل داچې دخلافت کار ددوئ په نظر غټ کارنه وو چې په دې وجه يې پرې ایښي وای چې ودرېږه چې فلانی اوفلانی راسی که دوئ ځنډکړی وای دمسلمانانو په مینځ کې دجګړی دپیلید وویره وه..

داخبره به پرېږدو ځکه علی ؓ اوزبیر ؓ په لومړی سر کې له ابوبکر صدیق ؓ سره په لاس بیعت وکې وقد صح ابن حبان وغیره من حدیث ابن حبان وغیره ان علیا بایع ابابکر ؓ فی اول الامر(۱)

ژباړه : ابن حبان اونورود ابوسعید خدری ؓ ودې روایت ته صحیح ویلی دی چې په هغه کې يې داسی بیان کړی دی چې علی ؓ په لومړی سر کې له ابوبکر صدیق ؓ سره په لاس بیعت وکړ

حافظ ابن کثیر وايې چې ښه اوحق خبره داده چې علی ؓ په لومړی سر کې له ابوبکر صدیق ؓ سره په لاس بیعت کړی دی، علی ؓ په هیڅ وخت کې هم له ابوبکر صدیق ؓ څخه نه دی بیل سوی اوټول لمنځونه به يې دابوبکر صدیق ؓ په اقتداء کول (۲)

اوله ابوسعید خدری ؓ څخه پرته له نورو صحابه کرام ؓ څخه هم روایت سوی دی چې علی ؓ په پیل کې دابوبکر صدیق ؓ په لاس باندی بیعت وکړ چې هغه دحاکم څخه پرته ابوداؤد طیالسی اوابن سعد اوابن ابی شیبة اوابن جریر اوبیهقی اوابن عساکر روایت کړی دی اوپه صحیح بخاری کې له عائشه صدیقه ؓ څخه روایت سوی دی چې علی ؓ شپږ میاشتی وروسته چې کله فاطمه الزهراء ؓ وفات سوه ترهغه وروسته يې له ابوبکر صدیق ؓ سره بیعت وکې

یو شمیر علماؤ دبخاری ورروایت ته ترجیح ورکړی ده اوامام بیهقی بیاد ابن حبان روایت ترجیح ورکړی ده اویو شمیر نورو علماؤ بیاددې دواړو روایتو په مینځ کې داسی تطبیق کړی دی چې علی ؓ خو يو ځل په لومړی سر کې بیعت وکې مګر وروسته چې کله دفدک پیښه منځ ته راغله اودغم اوخفګان په وجه فاطمة الزهراء ؓ ناروغه سوه په همدې وخت کې علی ؓ له ابوبکر صدیق ؓ سره راشه درشه لږ سوه نوخلکو دافکر وکې چې علی ؓ دابوبکر صدیق ؓ په خلافت باندی خوښ نه دی نودخلکو ددې وهم دلیری کولو لپاره علی ؓ په یوه لویه غونډه کې دویم ځل بیعت وکې نودادویم بیعت دی دادلومړنی بیعت نوی والی وو (۳)

(۱) ازالة الخفاء جلد ۲ /ص/ ۲۷، سیرت حلبیه جل ۳ /ص/ ۳۶۰، فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۳۷۹)

سیف لودین کتابتون

په صحیح بخاري کې له عائشه صدیقه رضي الله عنها څخه روایت سوی دی چې د فاطمة الزهراء رضي الله عنها له وفات وروسته علی رضي الله عنه ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته پیغام ولیږی چې ته زما کور ته راسه مگر بل څوک به له تا سره نه وی (اشاره وعمر فاروق رضي الله عنه ته وی ځکه هغه سخت دی) او ابوبکر صدیق رضي الله عنه نرم دی عمر فاروق رضي الله عنه چې کله خبر سو نو ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته یې وویل چې قسم په الله ﷻ که ته یواځی ولاړسی، ابوبکر صدیق رضي الله عنه وویل قسم په الله ﷻ زه به خامخا یواځی ځم زه داهیله نه لرم چې هغه به له ما سره څه چلند وکړی کله چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه وعلی رضي الله عنه ته ورغلی نو علی رضي الله عنه د حمدا و ثناء ویلو وروسته وویل (انا قد عرفنا فضلک وما اعطاه الله ولم تنفس علیک خیرا ساقه الله الیک ولکنک استبددت(۱) علینا بالامر وکنا نری لقرابتنا من رسول الله صلی الله علیه وسلم نصیبا حتی فاضت عینا ابی بکر رضي الله عنه فلما تکلم ابو بکر رضي الله عنه قال والذی نفسی بیده لقرابة رسول الله صلی الله علیه وسلم احب الی ان اصل قرابتی واما الذی شجر بینی وبینکم من هذه الاموال فلم آل فیها عن الخیر ولم اترک امرا رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم یصنعه فیها الاصنعة فقال علی لابی بکر رضي الله عنه موعدک العشیة للبیعة فلما صلی ابو بکر رضي الله عنه الظهور فی المنبر فتشهد و ذکر شانُ علی رضي الله عنه وتخلفه عن البیعة وعذره بالذی اعتذر الیه ثم استغفر وتشهد علی رضي الله عنه تعظم حق ابی بکر رضي الله عنه وحدث انه لم یحمله علی الذی صنع نفاسة علی ابی بکر رضي الله عنه ولا انکار للذی فضل الله به لکنا کنا نری لنا فی هذا الامر نصیبا فاستبد علینا فوجدنا فی انفسنا فسر بذلک المسلمون وقالوا اصبت)

ژباړه: اي ابوبکر صدیق رضي الله عنه موږ ستا شرافت عزت او غوره والی ښه پیژنو او کوم خیر او عزت یعنی خلافت چې الله تعالی تا ته درکي موږ یوه ذره هم په دې کې کین او حسد نه کوو مگر زموږ داگیله ده چې د خلافت کار یواځی زموږ له مشوری پرته سرته ورسیدی او د رسول الله ﷺ د خپلوی په وجه په مشوره کې زموږ هم حق شته علی رضي الله عنه داسی گیلی او شکایتونه کول د ابوبکر صدیق رضي الله عنه له ستر گو اوښکی بهیدلی ابوبکر صدیق رضي الله عنه د ده په ځواب کې وویل اې علی رضي الله عنه قسم په هغه الله ﷻ چې زما روح د هغه په لاس کې دی د رسول الله ﷺ خپلوی ما ته تر خپلی خپلولی ډیره محبوبه ده او د فدک یعنی د بنو نضیر د مالو په اړه چې کوم اختلاف پیښ سو نو په هغه کې ما هم یواځی د خیر او نیکی پرته بله لار نه ده غوره کړی او د رسول الله ﷺ طریقه مې اختیار کړه لکه څنگه چې به رسول الله ﷺ د دې مالو ویش کوی ما هم هغه رنگه وکړل علی رضي الله عنه ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته وویل چې زما له تا سره وعده ده چې تر زوال وروسته به بیعت درسره کوم ابوبکر صدیق رضي الله عنه چې کله د ماپښین له لمانځه فارغ

---

(۱) قوله ولکنک استبددت بالامر قال المازری ولعل علیا رضي الله عنه اشار الی ان ابابکر رضي الله عنه استبد علیه بامر عظیم کان مثله علیه ان حضره فیها ویشاوره اوانه اشار الی انه لم یستشر فی عقد الخلافة له اولا والعذر لابی بکر رضي الله عنه انه خشی من التأخر عن البیعة لاختلاف ماکان وقع من الانصار رضي الله عنهم کما تقدم فی حدیث السقیفة فلم نستظره. فتح الباری جلد۷/ص/۳۷۹)

سیف لودین کتابتون

سو نو منبرته وختی او دالله حمد او ثناء يې وويل وروسته يې دعلي ﷺ شان او دهغه فضائل او دهغه دبيعت نه کولو او دوروسته والی عذربيان کي او دهغه لپاره يې ښننه وغوښته او له منبره راکښته سو دده له خبرو وروسته علي ﷺ دالله حمد او ثناء بيان کړه او بيا يې دابوبکرصديق ﷺ فضائل او حقوق بيان کړه او له ابوبکرصديق ﷺ سره يې په لاس بيعت وکي او دا يې وويل له ماچې کوم وروسته والی سوی دی ددې وجه معاذالله دانه وه چې زه دابوبکرصديق ﷺ په خلافت باندی څه حسديا کين کوم اونه داوجه ده چې زمادهغه دفضيلت او مرتبې څخه انکارکړی دی بلکې يوائي له دې کبله وځنډيدم چې په دې کارکې زموږهم دمشوری حق وو بايد له موږ څخه مشوره اخيستل سوی وای مګر ابوبکرصديق ﷺ يوائی داکاروکي اوزموږ له مشوری پرته يې داکارسرته ورسوی نوځکه موږ په زړه کې يو څه خفه غوندی سو مسلمانانوچې کله دعلي ﷺ خبری واوريدی ډير خوشحاله سو او ټولو علي ﷺ ته وويل اصبت واحسنت، يعني تا ښه وويل او حق دی آداکي له دې ټولوروايتو څخه داخبره درڼا ورځی په څير څرګنديږی چې علي ﷺ دابوبکرصديق ﷺ په غوره والی اودخلافت په اهليت کې يوه ذره شک هم نه وو اونه يې په خلافت صديقی باندی حسد او غبطه وه او په ډيره خوشالی او مينه سره يې له ابوبکرصديق ﷺ سره په لاس بيعت وکي اوکوم شکايت او ګيله چې وه نوهغه دمحبت په بنيادوه خفګان خوله خپلووی له پردو څه ګيله کيږی بلکې له دې څرګنديږی چې دعلي ﷺ زړه دابوبکرصديق ﷺ له مينی ډک وو او دهغه په غوره والی کې دده يوه ذره شک هم نه وو له بيعت شاته والی معاذالله دکين اوحسدپه وجه نه وو بلکې يو دوستانه او مخلصانه ګيليه وه دناز په ډول وه دهغې هيڅ حقيقت نه وو ابوبکرصديق ﷺ خوسقيفه ته دخپل بيعت داخيستو لپاره نه ووتلی بلکې دمهاجرينو ﷺ اوانصارو ﷺ دکورنی جګړی دويری له کبله تللی وو اوابوبکرصديق ﷺ خوهلته دخپل بيعت غوښتنه هم نه ده کړی بلکې دغونډی ټولوخلکوپه اتفاق سره له ده سره بيعت وکي او ده يوائی له دی ويری بيعت قبول کی چې هسی نه چې په مسلمانانوکې فتنه راپورته نه سی بيابه خبره له واکه وتلی وی په داسی نازک وخت کې خبره دې ته پريښودل چې فلانی نه دی راغلی اوله فلانی سره مشوره نه ده سوی مناسب کارنه دی ابوبکرصديق ﷺ چې کله علي ﷺ ته داخبری وکړی نودعلي ﷺ هم ټوله ګيله اوشکايت ليری سو او په زړه اوډيره خوشالی سره يې له ابوبکرصديق ﷺ سره بيعت وکي.

علامه حلبی په سيرت حلبيه کې وايې چې کله مهاجرين ﷺ اوانصار ﷺ رايوځای سو نوابوبکرصديق ﷺ دعلي ﷺ دحاضريدو لپاره يو څوک وليږل کله چې علي ﷺ راغلی نوداسی يې وفرمايل:

سیف لودین کتابتون

ماخلفک یاعلی من امر الناس قال خلفنی عظیم المعتبة ورأیتکم استقللتم برأیکم فاعتذر الیه ابوبکر رضی الله عنه یخوف الفتنة لواخرثم اشرف علی الناس وقال ایها الناس هذاعلی بن ابی طالب رضی الله عنه لابیعة لی فی عنقه وهوبالخیار عن امر الا وانتم بالخیار جمیعا فی بیعتکم فان رأیتم لها غیری فانا اول من یبایعه فلماسمع ذلک علی کرم الله وجهه زال ماکان قد داخله فقال اجل لانری لها غیرک امدد یدک فبایعه هووالنفرالذین کانوامعه الخ (۱)

ژباړه : اې علی رضی الله عنه ته له بیعت کولو کوم کار شاته کړی یې علی رضی الله عنه وویل زه ډیره لویه ګیله لرم ځکه شاته سوی یم هغه داده چې تاسو زموږ له مشوری پرته داکارسرته رسولی دی ابوبکرصدیق رضی الله عنه عذروغوښتی وې ویل چې هغه وخت ډیر نازک وو که موږ هغه وخت داکارسرته نه وای رسولای نودفتنی دراپورته کیدو ویره وه اوبیاابوبکرصدیق رضی الله عنه خلکوته مخ واړوی ورته وې ویل اې خلکو داعلی بن ابی طالب رضی الله عنه دی تراوسه پوری دعلی رضی الله عنه په غاړه کې زمادبیعت امیل نسته هغه ته خپل ا ختیاردی چې څنګه دهغه خوښه وی هغسی دی وکوی له ماسره بیعت کوی اوکه یې نه کوی اوتاسوکه څه هم له ماسره بیعت کړی دی مګر تاسوته هم پوره واک شته چې خپل بیعت بیرته واخلی اوکه له ماپرته له بل چاسره بیعت کول غواړی نوتاسوته دخپل واک یاست چې ستاسو خوښه وی له هغه چاسره بیعت وکوی له هغه امیرسره به زه ترټولو مخکې بیعت کوم ابوبکرصدیق رضی الله عنه چې کله داخبری وکړی نودعلی رضی الله عنه ټولی ګیلی اوشکایتونه له زړه ووتل اوداسی یې وفرمایل اې ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته ترټولوډیر دخلافت اهل یې خپل لاس راوړاندی که چې بیعت درسره وکړم علی رضی الله عنه اودهغه ملګروټولوله ابوبکرصدیق رضی الله عنه سره په لاس بیعت وکړ

سعدبن عباده رضی الله عنه هم له ابوبکرصدیق رضی الله عنه سره بیعت وکړ !

دبنی ساعده په سقیفه کې ټولوصحابه کرام رضی الله عنهم له ابوبکرصدیق رضی الله عنه سره په لاس بیعت وکي مګر سعدبن عباده رضی الله عنه له بیعت کولوڅخه انکاروکي اوکورته ولاړی ترڅو ورځوپوری ابوبکرصدیق رضی الله عنه څه ونه ویل عمرفاروق رضی الله عنه وویل چې له سعدبن عباده رضی الله عنه څخه هرومرو باید بیعت واخیستل سی ، بشیربن سعد رضی الله عنه وویل هغه پرخپل حال پریږدی یوځل یې انکاروکي په دویم ځل ځیرلوسره داویره سته چې دکورنۍ اوقوم خلک دهغه دپلوی لپاره راپورته نه سی هسی نه چې خبره ترجګړی اووینی تویولوورسیږی ټولودارایه خوښه کړه ، سعدبن عباده رضی الله عنه له دې پیښې وروسته له ابوبکرصدیق رضی الله عنه سره په لمانځه کې نه دی شریک سوی په بل مسجد کې لمنځونه کول اونه یې له ابوبکرضدیق رضی الله عنه سره خبری کولی ترڅوپوری چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه وفات سو دابوبکرصدیق رضی الله عنه له وفات وروسته سعد رضی الله عنه شام ته ولاړی اوپه شام کې وفات سو امام طبری وایې چې سعدبن عباده رضی الله عنه هم په هغه ورځ یوګړی وروسته له ابوبکرصدیق رضی الله عنه بیعت وکي ، والله اعلم)

(۱) سیرة حلبیة جلد ۳/ص/ ۳۶۰)

سیف لودین کتابتون

ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه عمرفاروق ﷺ ته ګیله کوی !

ابوبکرصدیق ﷺ دفتنی اواختلاف دراپورته کیدو له ویری اودخلکوپه ټینګارسره خلافت ومنی مګرپه زړه کې ډیر غمجن اوخفه وو ځان ته یې ویل چی تاولی دخلافت دروندبارپرسرکیښودی ډیرغمجن اوخفه ووپه کورکې کینستی (۱) عمرفاروق ﷺ چی کله ورغلی نوابوبکرصدیق ﷺ ډیر ملامت کي اوګیله یې ورته وکړه چی تازه په دې غم کې واچولم ځکه په خلکوکې پریکړه کول ډیر ستونزمن کاردی عمرفاروق ﷺ تسلی ورکړه اوورته وې فرمایل چی آیاتادنبی کریم ﷺ داارشادنه دی اوریدلی چی امیراوحاکم که اجتهادوکړی اوحق ته ورسیږی نودهغه لپاره دوه اجره دی اوکه په اجتهادکې خطاء سی نودهغه لپاره یواجردی ، ابوبکرصدیق ﷺ چی دعمرفاروق ﷺ تسلی اودنبی کریم ﷺ داارشادواوریدی غم یې څه سپک سو (ابن راهویه اوخیثمه فی فضائل الصحابه ﷺ (۲)

په یوبل روایت کې راغلی دی چی ابوبکرصدیق ﷺ درې ورځي دروازه بنده کړی وه اوپه کورکې ناست وو کله چی یې مسجدته تشریف راوړی نوپه منبرباندی ودریدی اوداسی یې وفرمایل : ایها الناس قد اقلتکم بیعتکم فبایعوا من احبتهم کل ذلک یقوم الیه علی بن ابی طالب ﷺ فیقول لا والله لانقیلک ولاتستقیلک من ذالذی یؤخرک وقدقدمک رسول الله صلی الله علیه وسلم (۳)

ژباړه : اې خلکوزه ستاسوبیعت بیرته درسپارم تاسوچی له هرچاسره غواړی بیعت وکي په وار وارې داوویل چی هرځل به علی ﷺ ولاړسو اوداځواب به یې ورکوی چی قسم په الله ﷻ که داسی وسی موږنه له تاسره بیعت ماتوو اونه یې بیرته درڅخه اخلو څوک دی چی تاشاته کړی کله چی ته رسول الله صلی الله علیه وسلم مخ ته کړی یې

په بحرین یاعمان کې له عمروبن العاص ﷺ څخه دخلکوپوښتنه !

عن یحی بن سعید عن القاسم بن محمد قال توفی رسول الله صلی الله علیه وسلم وعمروبن العاص ﷺ بعمان اوبالبحرین فبلغتهم وفاة رسول الله صلی الله علیه وسلم واجتماع الناس علی ابی بکر ﷺ فقال له اهل الارض من هذا الذی اجتمع الناس علیه ابن صاحبکم قال لا قالوا فاخوه قال لا قالوا فاقرب الناس الیه قال لا قالوا فماشأنه قال اختار وخیرهم فامروه فقالوا الن یزالوا بخیر مافعلوا هذا (ابن جریر (۴)

ژباړه : یحی بن سعید له قاسم بن محمد څخه روایت کوی چی کله نبی کریم ﷺ وفات سو نوعمروبن العاص ﷺ په هغه وخت کې په عمان یابحرین کې وو کله چی هلته خبرورسیدی

---

(۱) دروایت اصل الفاظ دادی عن موسی بن ابراهیم عن رجل من آل ربیعة انه بلغه ان ابابکر حین استخلف قعد فی بیته حزینا فدخل علیه عمر ﷺ فاقبل علیه یلومه وقال انت الذی کلفتنی هذا الامر وشکا الیه الحکم بین الناس فقال له عمر ﷺ اماعلمت ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ان الوالی اذا اجتهد فاصاب الحق فله اجران وان اجتهد فاخطأ الحق فله اجر واحد فکانه سهل علی ابی بکر ﷺ (ابن راهویه وخیثمه فی فضائل الصحابه کنزالعمال جلد ۲/ص/۱۳۵)

(۲) کنزالعمال جلد ۳ /ص/ ۱۳۵)

(۳) کنزالعمال جلد ۳ /ص/ ۱۴۰)

(۴) کنزالعمال جلد ۳ /ص/ ۱۳۶)

سيف لودين كتابتون

خلیفه وټاکي دهغه ځای چې رسول الله ﷺ وفات سو او خلکو په اتفاق سره ابوبکر صدیق رضی الله عنه
او سید ونکوله عمروبن العاص رضی الله عنه ځخه وپوښتل چې کوم سړی چې دخلکو په اتفاق سره
خلیفه ټاکل سوی دی داځوک دی آیا ستاسو د نبي ﷺ زوی دی عمروبن العاص رضی الله عنه وویل نه
خلکو وویل آیا ورورېې دی ؟ عمروبن العاص رضی الله عنه وویل نه ورورېې هم نه دی خلکو وویل
چې آیا د نبي ﷺ له نژدی خپلوانو ځخه یو ځوک دی ؟ عمروبن العاص رضی الله عنه وویل نه له نژدی
خپلوانو ځخه هم نه دی بیا خلکو وویل نو ځوک دی چې دټولو په اتفاق سره امیر ټاکل سوی
دی ؟ عمروبن العاص رضی الله عنه وویل داسی ځوک خلیفه ټاکل سوی دی چې په ټولوکې افضل
او غوره وو خلکو هغه خپل خلیفه کې اوله هغه سره یې بیعت وکې وروسته خلکو وویل چې
دا خلک به همیشه په خیر کې وی ترځو پوری چې داسی کوی ..

نبی کریم ﷺ دهیچا لپاره دخلافت وصیت نه وو کړی !

دټولو مهاجرینو رضی الله عنهم او انصارو رضی الله عنهم په اتفاق سره ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلیفه کول ددې خبری
دلیل دی چې رسول الله ﷺ دهیچا لپاره دخلافت وصیت نه وو کړی چې فلانی سړی به
ترما وروسته خلیفه وی په ښکاره الفاظو خویې نه علی رضی الله عنه او نه ابوبکر صدیق رضی الله عنه دخلافت
لپاره ټاکلی وو خو دابوبکر صدیق رضی الله عنه دخلافت په هکله یې اشارة فرمایلی دی په ټول
ژوندکې نبی کریم ﷺ له ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره داسی معامله کړی ده لکه دیوه پاچا چې له
خپل ولی عهد سره وی ..

شیعه ګان وایې چې علی رضی الله عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم خلیفه او وصی وو په
صحیحینو کې روایت سوی دی چې دعائشه صدیقه رضی الله عنها په مخکې دابیان وسو چې رسول
الله ﷺ علی رضی الله عنه خپل وصی جوړ کړی دی نو عائشه صدیقه رضی الله عنها وویل ځوک داسی وایې په
آخروخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماله خپلی سینی سره لګولی وو ناسته وم او په
همدی حالت کې نبی کریم ﷺ وفات سو ماته معلومه نه ده چې دعلی رضی الله عنه په هکله یې کله
وصیت وکې (لومړی دلیل) په صحیحینو کې راغلی دی چې کله عمر فاروق رضی الله عنه په
خنجر ووهل سو او خلک دهغه له ژونده ناهیلی سو نو غوښتنه یې وکړه :

الاتستخلف یاامیرالمؤمنین فقال ان استخلف فقداستخلف من هو خیرمنی یعنی ابابکر رضی الله عنه وان اترک
فقدترک من هوخیرمنی یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم)

ژباړه : اې امیرالمؤمنین رضی الله عنه ته یوځوک زموږ خلیفه نه ټاکی عمر فاروق رضی الله عنه وفرمایل که زه
ځوک خلیفه وټاکم نو په دې کې هیڅ حرج نسته ځکه هغه ځوک چې ترما غوره وو یعنی
ابوبکر صدیق رضی الله عنه هغه دخپل وفات په وخت کې خپل خلیفه ټاکلی وو او که زه ځوک خلیفه
ونه ټاکم نو په دې کې هم هیڅ حرج نسته ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅوک خپل
خلیفه نه وو ټاکلی .. (دویم دلیل) علی کرم الله وجهه ته دمرګ په وخت کې وویل سو :

الاتستخلف علینا فقال مااستخلف رسول الله صلی الله علیه وسلم فاستخلف ولکن ان یؤدالله بالناس
خیرافیجمعهم بعدی علی خیرهم کماجمعهم بعدنبیهم علی خیرهم (اخرجه البیهقی واسناده جید)

ژباړه : خلکو وویل اې امیرالمؤمنین ﷺ ته پر موږ باندې څوک امیر نه ټاکې علی ﷺ وویل نبی کریمﷺ خپل خلیفه نه وو ټاکلی نوزه ولی خلیفه وټاکم مګر که د الله ﷻ اراده و خلکو ته د خیروه نوتر ما وروسته به یې په غوره او ښه سړی باندې راټول کړي لکه څنګه چې الله تعالی د نبی کریم ﷺ له وفات وروسته خلک په یوه غوره د خلکو یعنی ابوبکرصدیق ﷺ باندې راټول کړه دا حدیث امام بیهقی روایت کړی دی او اسناد د دی حدیث ډیر کره دی ..

(دریم دلیل) په صحیح بخاری کې راغلی دی چې عباس ﷺ علی ﷺ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ناروغی په وخت کې وویل چې قسم په الله ﷻ ته به درې ورځې وروسته (عبدالعصا) یعنی د لکړې مریئ یې یعنی د نبی کریم ﷺ وفات رانژدې ته له نبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ترتا وروسته به خلیفه څوک وی ؟ علی کرم الله وجهه وویل (ان لا اسأله ذلک) زه په دې اړه له نبی کریم ﷺ څخه هیڅ پوښتنه نه کوم

څلورم دلیل) سفیان ثوری رحمه الله تعالی روایت کوی چې علی ﷺ داسی تقریروکي (یا ایها الناس ان رسول الله صلی الله علیه وسلم لم یعهد الینا فی هذه الامارة شیئاً حتی رئینا من الرئ ان نستخلف ابابکر ﷺ فاقام واستقام حتی مضی لسبیله ثم ان ابابکر ﷺ رأی من الرأی ان یستخلف عمر ﷺ فاقام واستقام حتی مضی لسبیله هذا کله من البدایه والنهایة)

ژباړه : اې خلکو رسول الله ﷺ موږ ته د امارت او خلافت په اړه هیڅ وصیت نه دی کړی د هغه له وفات وروسته ټولو مسلمانانو په اتفاق سره ابوبکرصدیق ﷺ خلیفه وټاکي او د خلافت کارېې ډیر ښه سرته ورسوی ترڅو له دنیا رخصت سو بیا ابوبکرصدیق ﷺ په خپله خوښه عمرفاروق ﷺ خلیفه وټاکی عمرفاروق ﷺ ډیر غوره خلافت سرته ورسوی ترڅو چې له دنیا وکوچیدی دا روایت په البدایه والنهایه کې راوړل سوی دی .

(پنځم دلیل) په صحیحینو کې راغلی دی چې علی کرم الله وجهه خطبه ولوسته او داسی یې وفرمایل : چې هرڅوک چې دا فکر کوی چې زموږ سره د الله ﷻ له کتاب پرته او له دې صحیفی چې په هغې کې د دیت او نور حکمونه دی بل کوم کتاب او کومه وصیت نامه سته نو دا ییخی دروغ او بې بنیاده خبره ده ..

شیعه ګان وایې : چې رسول الله ﷺ د خلافت وصیت کړی وو اهل السنت والجماعت وایې چې که رسول الله ﷺ علی ﷺ خپل خلیفه ټاکلی وی نو بیا د دې هیڅ امکان نه وو چې د نبی کریم ﷺ په وصیت عمل نه وو کړی ځکه صحابه کرامو ﷺ خود رسول الله ﷺ لپاره ځانونه ، مالونه ، اولادونه خپل خپلوان هرڅه ټول قربان کړی وو د دوئ په اړه داسی بد ګمانی چې دوئ ښه خبر وو او د رسول الله ﷺ وصیت یې رد کې دا سراسر د قرآن کریم ښکاره تکذیب دی ځکه قرآن د صحابه کرام ﷺ له صفاتو ډک دی او بل دا چې که له علی ﷺ او عباس ﷺ سره د خلافت په هکله کوم وصیت نامه وای نو هغه به یقینا متواتروه د هغه پټیدل عادتًا ناممکن

سیف لودین کتابتون

ابوبکرصدیق ؓ چې دانصارو ؓ مخ ته داحدیث وړاندې کې چې (الائمة من قریش)
انصارو ؓ چې کله داحدیث واوریدی سمدستي یې له دماغ دخلافت اوامارت خبره
ووتله اوله ابوبکرصدیق ؓ سره یې بیعت وکي اوبل داچې که دخلافت په اړه کوم
ښکارنص موجودوو نویوچاخوبه په هغه مجلس کې ویلی وو چې اې خلکوتاسودخه
لپاره بحث کوی رسول الله ﷺ خوفلانی سړی خپل خلیفه ټاکلی دی نبی کریم ﷺ که له
ابوبکرصدیق ؓ پرته بل څوک مثلاً علی ؓ یاعباس ؓ خپل خلیفه ټاکلی وی نوددې
هیڅ امکان نه وو چې په صحابه کرام ؓ کې یې هغه وهیچاته نه وو ښکاره کړی دبنی
ساعده په سقیفه کې خوددوئ راغونډیدل دخلیفه دمعلومولولپاره وو که دخلافت په اړه
کوم ښکاره نص موجودوای نوانصارو ؓ به (مناامیرومنکم امیر) نه ویل اونه په سقیفه کې
چاداوویل چې رسول الله ﷺ خودغدیرخم په خطبه کې وفرمایل (من کنت مولاه علی مولاه) یوه
صحابی مبارک هم داونه ویل چې دادعلی ؓ وخلافت ته اشاره دی باید هغه خلیفه وټاکل
سی اوبل داچې که له علی ؓ سره خپل دخلافت نص موجودوی نودصحابه کرام ؓ په
مخکې به یې هرومرو هغه وړاندې کړی وو که هغوئ نه منلی نوله ابوبکرصدیق ؓ
اوعمرفاروق ؓ سره به یې جهاداعلان کړی وو لکه له معاویه ؓ سره چې یې اعلان کې
خاص بیاهغه وخت کله چې ابوسفیان علی ؓ ته وویل ته لاس راوړاندی که زه بیعت
درسره کوم اوکه ته غواړې نودابوبکرصدیق ؓ په مقابله کې به میدان له سپرواوپلیوډک
کړم علی ؓ ابوسفیان ته ډیرتند ځواب ورکی چې ماته ستادلارښوونی اړتیانسته ته
غواړې چې په مسلمانانوکې فتنه اوبیلوالی راسی نوله دې ټولوداخبره معلومه سوه چې
له علی ؓ سره نه نص اونه وصیت نامه وه ځکه هغه په خوله اوزړه دابوبکرصدیق ؓ
خلافت منلی وو اودایې راشده اوحق خلافت ګڼی اودهغه پرخلاف یې ژبه استعمالول
فتنه اوفساد ګڼی دعلی ؓ په نظرکه خلافت د ابوبکرصدیق ؓ حق نه وو نوهرومروبه یې
له ابوبکرصدیق ؓ سره جګړه کړی وه لکه له معاویه ؓ سره چې یې وکړه ځکه دالله ﷻ
دزمری کیدوځخه وروسته دالله ﷻ له دښمنانوسره جګړه نه کول ډیر بزدلی اودایمان
کمزوری دی نوکه دعلی ؓ دانه جګړه کول دمجبورتیااوکمزوری له کبله وو نومجبوره
اوکمزوری خودامارت اوخلافت مستحق اولائق نه دی اوکه داوویل سی چې علی ؓ له
واک سره سره دخپل خلافت وصیت نامه دتقیّه په بناء باندی ښکاره نه کړه نودابیابزدلی
هم ده اونفاق هم دی اوبزدل اومنافق هم خلیفه نسی کیدای (۱) شیعه ګان دی وواېې چې
دعلی ؓ له درې سره خلفاء ؓ سره یوځای اوسیدل اوپه مسجدکې په هغوئ پسی لمونځ
کول اودهغوئ مطابق قرآن لوستل اوپه هیڅ خبره کې دهغوئ مخالفت نه کول داټول په
تقیّه بناء وو مګر سوال داکیږی چې علی ؓ چې کله دخپل خلافت په وخت کې خطبه

سیف لودین کتابتون

نوموړي پوښتنه کوو چې امیرالمؤمنین علی ؓ د خلفاء ؓ له مرګه وروسته هم ویریدی اودویری له کبله یې دهغوئ صفتونه او فضائل بیانول افسوس دې دشیعه ګانو پرحال چې علی ؓ سره له دی چې دالله ﷻ زمرئ وو هغه دې له انسانانو څخه وویریږی اوله خلافت وروسته دې هم ددوئ په څیر احکام جاری کوی معاذالله علی ؓ هیڅکله داسی بزدل اونامرده نه وو لکه شیعه ګان چې وایې

داهل السنت والجماعة عقیده خو دادی چې علی ؓ رښتیاهم دالله ﷻ زمرئ اودهغه پټ اوښکاره دواړه یوشان وو شیعه ګان خبیثان وایې چې دعلی ؓ پټ اوښکاره سره جلا وو بنده خو ظاهرته ګوری له زړه خوالله ﷻ خبردی علی ؓ چې کله په ښکاره درې واړه خلفاؤ ؓ دمنبرپرسرستاینه کوله دشیعه ګانو په نزد علی ؑ معصوم دی اودمعصوم اطاعت فرض دی اودهغه نافرمانی فسق دی اوبل داچې داخبره اهل السنت اوشیعه ګان دواړه منی چې علی ؓ دابوبکرصدیق ؓ دخلافت له وخته بیاترپایه پوری اودعمرفاروق ؓ دخلافت له وخته بیاترپایه پوری اودعثمان غنی ؓ دخلافت له وخته بیاترپایه پوری ددرې واړه خلفاء ؓ سره په مهمو کاروکې خاص مشاور وو په هرحالت کې ورسره شریک پاته سوی دی اوڅومره جګړی اوغزاوی چې سوی دی په هغوکې دعلی ؓ مشوره هم وه اودغنیمت له ماله به یې خپله برخه اخیستله اوپه لمنځوکې به یې په دوئ پسی اقتداء کوله اوپه دینی مسئلوکې به یې دهغوئ ملګری کوله داټول ددې خبری ښکاره دلیل دی چې علی کرم الله وجهه ددرې واړه خلفاء ؓ خلافت حق ګڼی اودعلی کرم الله وجهه دغه پنځه ویشت کال ژوند اوعمل په تقّیه باندی حمل کول ددې دلاوری شیعه ګان څنګه کوی موږ اهل السنت والجماعت خودعلی کرم الله وجهه دمریانودمریانو دمریانوشان هم تردی لوړ بولو چې څوک دی په زړه سره څوک کافراو منافق اوغاصب اوخائن بولی اوپه ښکاره دې له هغه سره داسی دوستانه اړیکی ساتی اوپه هغه پسی دې لمنځونه کوی اودهغه قرآن دې وایې اودهغه احکام دې بیادخپل خلافت په وخت کې جاری کوی معاذالله ، لاحول ولاقوة الابالله)

سوال : نبی کریم ﷺ ولی دخپل خلافت اوامارت لپاره څوک ونه ټاکل ؟

ځواب : درسول الله ﷺ په ذمه باندی دامیراوخلیفه معلومولو واجب نه وو دامسئله یې دمسلمانانو په اجتهاداومشوره باندی پریښوده چې په خپله خوښه څوک خلیفه وټاکي اواشارةً یې خپله خوښه داسی ښکاره کړه چې ابوبکرصدیق ؓ یې پرخپل ځای دلمانځه لپاره امام وټاکي چې دادابوبکرصدیق ؓ وخلافت ته اشاره وه اوکله چې نبی کریم ﷺ ته دامعلومه سوه چې زمادااشاره به دصحابه کرام ؓ لپاره کافی وی ځکه یې دهغه پاڼی لیکل پریښودل چې دابوبکرصدیق ؓ دخلافت په اړه یې لیکله دهغه وصیت لیکل یې پریښودل چې دابوبکرصدیق ؓ دخلافت په اړه یې لیکله دهغه وصیت

سيف لودين كتابتون

دليکلو اراده يې پرېښوده چې اوس ودې ته اړتيا نسته ځکه دالله ﷻ په فيصله او تقدير کې دامعلومه سوې ده چې مسلمانان به پرته له ابوبکرصديق ؓ په بل چانه راټوليږي علامه سيوطي په تاريخ الخلفاء کې ليکي چې رسول الله ﷺ چې کوم خليفه ونه ټاکی دهغه وجه داده لکه چې په مسند بزار کې يو حديث راغلی دی هغه داسې :

(عن حذيفه ؓ قال قالوا يارسول الله صلى الله عليه وسلم الا تستخلف علينا قال ان استخلف عليكم فتعصوا خليفتي نزل عليكم العذاب (واخرجه الحاكم فى المستدرك)

ژباړه : حذيفه ؓ وايې چې خلکوغوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ ته پرموږ باندې يو اميراو خليفه نه ټاکې ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل که زه پرتاسو څوک اميراو خليفه وټاکم او بيا تاسو دهغه سرغړونه وکوئ نوپرتاسو به دالله ﷻ عذاب نازليږي ، اوداحديث حاکم په مستدرک کې روايت کړی دی)

دخلافت په مسئله کې داهل السنت والجماعة اوشيعه ګانو داختلاف دلاملونو پيژندنه :

داهل السنت والجماعت اوشيعه ګانو ترمنيځ ترټولو لويه اختلافي مسئله دخلافت مسئله ده ځکه موږ ډير کوتاه داختلاف سببونه ولاملونه تاسو ته وړاندې کوو :

لومړی داچې دشيعه ګانو په نظر دخلافت دارومدار په خپلوی ، قرابت اودوستي يعنی دخوسرګنی بناء ده ځکه دشيعه ګانو په نزدرسول الله ﷺ خليفه بايدعلي ؓ وی ځکه هغه دنبي کريم ﷺ داکازوی اوزوم هم وو ، خواهل السنت والجماعت بياوايې چې دخلافت دارومدار په تقرب الی الله باندې دی نه په خپلوی اودوستي باندې کوم سړی چې ترټولو الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ ته نژدې وی هغه سړی درسول الله ﷺ خليفه اوځای ناستی دی دنبوت دخلافت له قرابت اودوستي سره څه علاقه ده که دخلافت دارومدار په خپلوی اوکورنۍ باندې وی نوله نبي کريم ﷺ څخه وروسته بايدخليفه خوديادنبي کريم ﷺ اکاعباس ؓ وی يادنبي کريم ﷺ لور فاطمة الزهراء ؓ وی هغه به ملکه وی اويونارينه به دهغې له لوری دچاروسرته رسونکي وی لکه چې ددنيادستور اورواج دی اوله فاطمة الزهراء ؓ وروسته به امام حسن ؓ خليفه وی اوله هغه وروسته به امام حسين ؓ خليفه وی اودامام حسين ؓ وروسته که علي ؓ ژوندی وی نوهغه به څلورم خليفه وی لنډه داچې که دخلافت دارومدار په خپلوی سی نودشيعه ګانوله قانون سره سم هم بايدعلي ؓ څلورم خليفه وی اواهل السنت والجماعت چې هغه څلورم خليفه کي نوڅه پيښه سوه علي ؓ ته چې کوم خلافت ورسيدی هغه دمهاجرينو ؓ اوانصارو ؓ په بيعت سره وو شيعه ګانو خوعلي ؓ ته هيڅ هم ورنه کړل اوکه دزمتوب وعلاقې ته وکتل سی نوپه دې وجه خوعثمان غني ؓ ترټولو ډير دخلافت حقدار

سیف لودین کتابتون

دوه واری زوم دی دعثمان غنی رضی الله عنه په نکاح کې خو دنبی کریم ﷺ دوې لوڼې یوه تربلې وروسته راغلی دی اوله همدې کبله هغه د ذی النورین په لقب سره ونومول سو اوپاته سوه داخبره چی دعثمان ذی النورین رضی الله عنه په نکاح کې چی دنبی کریم ﷺ دوې لوڼې راغلی وی هغه دنبی کریم ﷺ په ژوند کې وفات سوی دی نو داخو داخلافت حق نه زائله وی ځکه دنبی کریم ﷺ دلوڼو دنکاح په وجه چی کوم عزت اوشرافت عثمان غنی رضی الله عنه ته حاصل سوی وو هغه یوائې په نکاح سره وو دبی بی ګانو په ژوندی پاته کیدو اونه پاته کیدو سره نه وو لکه چی دفاطمة الزهراء رضی الله عنها له مرګ وروسته هم علی رضی الله عنه ته د زومتوب شرافت اوعزت حاصل وو دعلی رضی الله عنه داعزت دسیدة النساء رضی الله عنها په مرګ سره نه دی زائل سوی

اوپاته سوه داخبره چی شیعه ګان وایې چی دنبی کریم ﷺ دغه دوې لوڼې رقیه رضی الله عنها اوام کلثوم رضی الله عنها درسول الله ﷺ لوڼې نه وی بلکې دخدیجة الکبری رضی الله عنها له مخکنی خاونده څخه پیداسوی وی نو داښکاره دروغ اوچل دی ځکه ددوئ په کلینی شریف مطبوعه لکهنو کې ښکاره لیکل سوی دی (وتزوج خدیجة وهوابن بضع وعشرین سنة فولدله منها قبل مبعثه القاسم ورقیة وزینب وام کلثوم وولدله بعدالمبعث الطیب والطاهر والفاطمة اصول کافی کلینی صفحه ۲۷۸ باب مولدالنبی صلی الله علیه وسلم (اصول کلینی صفحه ۲۸۷

ژباړه : رسول الله ﷺ دشلوکالوڅخه څه دزیات عمروو چی له خدیجه رضی الله عنها سره یې نکاح وکړه اوله رسالته مخکې یې دهغې له خیټې څخه قاسم اورقیه اوزینب اوام کلثوم رضی الله عنها پیداسوی دی اوله نبوت وروسته طیب اوطاهراوفاطمه رضی الله عنها پیداسوی دی (اصول کافی کلینی باب مولدالنبی صلی الله علیه وسلم)

لنډه داچی دفاطمی رضی الله عنها په شیررقیه اوام کلثوم رضی الله عنهما هم دنبی کریم ﷺ لوڼې وی چی په دوئ کې فاطمة رضی الله عنها له نبوت وروسته پیداسوی ده اورقیه اوام کلثوم رضی الله عنهما له نبوت مخکې پیداسوی دی اودزوکړې دوروسته والی اومخته والی په خلافت کې هیڅ دخل نسته علی رضی الله عنه ته چی دزومتوب کوم عزت اوشرافت حاصل وو هغه دسیدة النساء رضی الله عنها له مرګ وروسته هم پاته سو دسیدة النساء رضی الله عنها په مرګ سره دزمتوب عزت اوشرافت نه سوخت دغه رنګه دعثمان غنی رضی الله عنه دزمتوب دوچنده شرافت اوعزت پاته سو

دخلافت په مسئله کې شیعه ګان یوعجیبه اوله خرافاتوډکی خندونکی اوژړونکی خبری کوی ددوئ دخبروپه راوړلو سره سړی شرمیږی یوه خبره له هغوڅخه داده دوئ وایې چی دنبی کریم ﷺ له وفات وروسته علی کرم الله وجهه دوې ورځی پرلپسی خپل ماشومان اوکورنی له ځان سره کړل اودمدینی دهرمهاجر اوانصاری وکورته ورغلی اودمرستی غوښتنه یې ځنی وکړه ورته وې ویل چی ګوری زه دالله جل جلاله دپیغمبر ﷺ خلیفه یم هغه زه

سیف لودین کتابتون

خلیفه کړی یم دې خلکوله ماڅخه خلافت واخیستی تاسوله ماسره مرسته وکوی اوزماحق راکړی علی ﷺ په ټوله مدینه کې وګرزیدی له څلوروکسانوپرته هیچاله علی ﷺ سره مرسته نه وکړه بیاهغه مجبوره سو داسی یې وویل چی په تاسوڅلورونوڅه کیږی داقصه که تفصیلی ګوری نوحق الیقین اوتذکرة الائمة وګوری ..

موږاهل السنت والجماعت دسیدناعلی رضی الله تعالی عنه منونکی اوهغه ته دڅلورم خلیفه عقیده لرو اوهغه دالله ﷻ زمریٔ دی اوهغه له عشره مبشره ووڅخه دی ، اوداده شیعه ګانوقصه ښکاره دروغ اوله ځانه جوړه سوی اوهیڅ بنسټ نه لری اوسراسردعقل خلاف دی دعلی کرم الله وجهه په شان کې داسی خبری کول دعلی ﷺ له تقوی پرهیزګاری اوولایت سره هیڅ تړاونه لری دادشیعه ګانودروغ دی چی په علی ﷺ پسی یې تړی

نبی کریم صلی الله علیه وسلم په میراث کوم شیان پریښودل !

درسول الله صلی الله علیه وسلم ټول ژوند فقیرانه وو تردوومیاشتوپوری به دنبی کریم ﷺ په کورکې اورنه وو بل سوی اوپه خورمابه یې ګذاره کوله په خاموحجروکې به اوسیدی شړی به یې اغوسته اوپه بوری چټایې اوتاټ به کښینستی له هغه سره به څه شیٔ وو چی له وفات وروسته یې وارثانوته پری ایښي وای له عمربن الحارث ﷺ چی دام المؤمنین جویریه رضی الله عنها ورور دی روایت سوی دی وایې چی (ماترک رسول الله صلی الله علیه وسلم عندموته درهما ولادینارا ولاعبدا ولاامة ولاشیئا الا بلغته البیضاء وسلاحه وارضا جعلها صدقة (صحیح بخاری کتاب الوصایا)

ژباړه : رسول الله ﷺ دخپل وفات په وخت نه یودرهم پریښودی اونه یودینار اونه یومریٔ اونه مینځه اونه بل شیٔ مګر یوه سپینه کچره اوسلاح اوڅه ځمکه چی هغه یې په خپل ژوندکې دمسلمانانولپاره خیرات اووقف کړی وه داشیان یې پریښودل

دعمروبن الحارث ﷺ په حدیث کې چی دکومه ځمکی یادونه سوی ده له هغه څخه درې جایدادونه مراددی

(۱) دمدینی جایداد چی دبنوالنضیرځمکه ده الله تعالی هغه رسول الله ﷺ دفئ په ډول ورکړی وه چی دهغه یادونه په قرآن کریم کې سوی ده اوداځمکه دنبی کریم ﷺ په واک کې وه ددې ځمکی په حاصلاتوبه یې دخپلی کورنی دیوه کال خرڅه کوله اوچی پاته به سوه په هغه به یې سلاح اوآسان اودجهاداړتیاتوکی رانیول (صحیح بخاری صفحه ۷۲۵)

(۲) دویمه په خیبرکې دنبی کریم ﷺ دځمکی برخه وه

(۳) دریم دفدک نیمه ځمکه چی دخیبرله فتح وروسته نبی کریم ﷺ ته دخیبر خلکوپه سوله کې ورکړه دفدک اوخیبرله ځمکوچی به کومه ګټه راتله هغه به دناڅاپی اړتیاوولپاره مصرفیده

سیف لودین کتابتون

داځمکې درسول الله ﷺ وې نبي کريم ﷺ چې ژوندی وو داځمکې دده په واک کې وې دالله ﷻ له لوري هغه ته اختيار وو چې څنګه غواړي تصرف دې پکې کوي مګر نبي کريم ﷺ به ددې ځمکو له حاصلاتو يوائې دخپل اهل او عيال دنفقې په اندازه حاصلات ځنې اخيستل نور حاصلات به يې ټول داسلام او مسلمانانو په اړتياوو کې مصرفول دخپل عيش او عشرت لپاره معاذالله يوه روپۍ هم نه دی مصرف کړې په ښکاره خو ددې ځمکو تصرف دمالک په ډول وو مګر په حقيقت کې دامتوليانه وو ځکه داځمکې دالله ﷻ وې يعني وقف وې او نبي کريم ﷺ دالله ﷻ په حکم سره په هغو کې تصرف کوی دالله ﷻ دحکم مطابق به يې مصرف کولې او داحکم هم دالله ﷻ له لوري څخه وو چې دخپل اهل او عيال نفقه هم له دې ځمکو څخه ورکوه ځکه به نبي کريم ﷺ دبنو نضير له ځمکو څخه خپلو بي بيانو ته ديوه کال نفقه ورکوله

دنبي کريم ﷺ له وفات وروسته داهل بيت دافکر وو چې ځمکې دنبي کريم ﷺ ځاني او خپل جايداد يې دی ځکه يې دميراث په ډول ددې ځمکو دويش غوښتنه وکړه فاطمة الزهراء رضي الله عنها دخيبر او فدک او دبني نضير له ځمکو څخه دخپلې برخې غوښتنه له ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه وکړه . ابوبکر صديق رضي الله عنه ورته وفرمايل چې ما په خپله له نبي کريم ﷺ څخه اوريدلي دي چې موږ انبياء عليهم السلام نه دچا دمال وراثان کيږو اونه زموږ څوک وارثان کيږي موږ چې څه پريږدو هغه ټول دالله ﷻ په لارکې خيرات دی البته کومه نفقه او خرڅه چې په هغه کې ټاکل سوی ده هغه به هم هغه شان پرخپل حال پاته وی او په کوم کارکې چې نبي کريم ﷺ مصرف کولې ابوبکر صديق رضي الله عنه هم په هغه رقم مصرف کوی او درسول الله ﷺ کورنۍ به هم له هغه حاصلاتو څخه خپله نفقه اخلي څنګه چې دنبي کريم ﷺ په وخت کې وه او قسم په الله ﷻ درسول الله ﷺ له خپلوانو سره ښه چلند او احسان زماتر خپلو خپلوانو دښه چلند او احسان ډير خوښ دی

دابوبکر صديق رضي الله عنه داخبره دسيدة النساء رضي الله عنها په زړه ښه ونه لګيدې او خفه سوه دامعلومه نه ده چې هغه ولې خفه سوه ابوبکر صديق رضي الله عنه خو ددې پلار محترم مبارک صلی الله عليه وسلم ښکاره حديث ورته وړاندې کي او عذريې وغوښتي چې زه داکارنه سم کولای مګر سيدة رضي الله عنها دخفګان له کبله ډير ناارامه سو ابوبکر صديق رضي الله عنه خو په هغه څه عمل وکی چې له نبي کريم ﷺ څخه يې اوريدلي وو او هيچاته يې دميراث په ډول له دې ځمکو برخه ورنه کړه حتی چې خپلې لور عائشه صديقه رضي الله عنها ته يې هم هيڅ ورنه کړل اونه يې دعمر فاروق رضي الله عنه لور حفصه رضي الله عنها ته چې له امهات المؤمنين څخه وه څه ورکړل خو سيدة فاطمة رضي الله عنها يې خوشاله کړه او دهغې کورته ورغلی او عذريې ورته وړاندې کي ترڅو چې هغه له ابوبکر صديق رضي الله عنه راضي

سیف لودین کتابتون

حافظ ابن کثیر (۱) فرمايي چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه په لومړي سرکې دځمکې له ويشلو څخه انکاروکی وروسته به غالباً فاطمی رضی الله عنها له ابوبکرصدیق رضی الله عنه څخه داغوښتنه کړې وی چې دخیبراوفدک دځمکوڅارنه دې علي رضی الله عنه ته وسپارل سی علی رضی الله عنه دې دهغوځمکو څارونکي اوپالونکي سی خوابوبکرصدیق رضی الله عنه له دې خبرې هم انکاروکي وې وويل چې ددې ځمکوڅارنه اوپالنه به زه په خپله کوم لکه څنګه چې به نبی کریم ﷺ په خپله کوله نوفاطمه الزهراء رضی الله عنها دبشریت په تقاضی یوڅه خفه سوه (۲)

دابوبکرصدیق رضی الله عنه له وفات وروسته تردوو کالوعمرفاروق رضی الله عنه دهغوځمکوڅارنه په خپله کوله اوپه خپل واک کې يې وساتلې دوه کاله وروسته چې کله علی رضی الله عنه اوعباس رضی الله عنه په دې هکله غوښتنه څنی وکړه نوعمرفاروق رضی الله عنه درسول الله ﷺ اودابوبکرصدیق رضی الله عنه په څیرد عمل کولوو ويل اودمیراث له ويشلو څخه يې ښکاره عذروغوښتی خوددوئ دزړه دخوشالی لپاره يې داومنله چې دمدینې ځمکه یعنی دبنونضیرځمکه به تاسوته وسپارم تاسودواړه به ددې ځمکی انتظام کوی اوله دوئ دواړويې داژمنه واخیسته اودااقراريې څنې واخیستی چې دامیراث نه بلکې وقف دی دوئ دواړوداخبره ومنله اوپه ګډه سره يې پرته له ملکیت دمدینی دځمکی څارنه اوپالنه کوله

اودخیبراوفدک چې کومې ځمکی وی دهغوپالنه اوڅارنه عمرفاروق رضی الله عنه په خپله کوله په دې طريقه عمرفاروق رضی الله عنه درسول الله ﷺ څخه پاته سوی ځمکه پردووبرخوويشله یودبنونضیرځمکه وه هغه يې دامهات المؤمنین (رض) لپاره بیله کړه هغه خويې علی رضی الله عنه اوعباس رضی الله عنه ته وسپارله ځکه دوئ دواړه داهل بیت له مصارفواوارتیاووښه خبروو ځکه دوئ دووغوښتنه هم کړې وه چې دنبی کریم ﷺ وقف سوی ځمکه دی دهغه دخپلوانوحق دی بلکې دهغوئ حق ترټولومخکې دی اودوئ دواړه دخپلوانوله حال اوارتیاووښه خبروو ځکه عمرفاروق رضی الله عنه دبنونضیرځمکه دوئ ته وسپارله اودنبی کریم ﷺ داقول چې (لانورث ماترکنا صدقة) داخبره عامه سوه هرکورته ورسیده اوس ددې ویره نه وه چې خلک به دافکروکړې چې دامیراث دی ځکه يې دبنونضیرځمکی اوجایدادونه دوئ دووته وسپارل اودويمه ځمکه چې دفدک اوخیبرځمکه وه دهغو حاصلات به يې

---

(۱) اصلی عبارت داسی دی : لما اخبرها الصديق رضی الله عنه انه قال لانورث ماتركنا فهو صدقة وعهد عن الميراث بهذا النص الصريح فسألته ان ينظر علی رضی الله عنه فی صدقة الارض التی بخيبر وفدک فلم يحبها الى ذلک لانه رأى ان حقا عليه ان يقوم فی جميع ماكان يتولاه رسول الله ﷺ وهو الصادق البار الرشد التابع للحق رضی الله عنه فحصل لها وهی امرأة من البشر ليست بواجبة العصمة عتب وتغضب ولم تكلم الصديق رضی الله عنه حتى ماتت آه البدايه والنهايه جلد ۵ /ص/ ۲۴۹ مخکې حافظ ابن کثیرپه کتاب کې ذکرکړی دی په صفحه ۲۸۹کې داسی لیکلی دی : وكانها سألته بعد هذا ان يجعل زوجها ناظرة على هذه الصدقة فلم يجبها الى ذلک لما قدمناه فتعتبت عليه بسبب ذلک وهی امرأة من بنات آدم تاسف كما يأسفون وليست بواجبة العصمة مع وجود نص رسول الله ﷺ وقد روينا عن ابی بكر رضی الله عنه انه ترضى فاطمة رضی الله عنها وتلافيها قبل موتها رضی الله عنها انتهى ثم ذكر حديث الاسترضاء فراجعه

(۲) البدايه والنهايه جلد ۵ /ص/ ۲۴۹)

سیف لودین کتابتون

دمسلمانانو په عامو اړتیاوکې مصرف کول دهغه پالنه اوڅارنه په خپله عمرفاروق ؓ کوله تریوڅه وخت علی ؓ اوعباس ؓ په داړوویوځای دمدینې منورې دځمکی پالنه کوله مګر څه وخت وروسته ددوئ په مینځ کې اختلاف پیښ سوځکه دیوه شئ چې دوه پالونکي وی خامخادرایه اختلاف راځی اوله دې اختلاف سره دجګړې پیښیدل هم لیری نه وه دوئ دواړه عمرفاروق ؓ ته دپریکړې لپاره راغلواوداغوښتنه یې وکړه چې داڅارنه اوپالنه دی موږدواړوته وویشل سی دمدینې دنیمایې ځمکې دی علی ؓ څارنه کوی اودنیمایې دی عباس ؓ څارونکي وټاکه ددې لپاره چې زموږپه مینځ کې شخړه اولانجه رانه سی بایددهریوه برخه بیله سی داصورت دمیراث له ویش سره مشابه ووځکه عمرفاروق ؓ له دې ویشلوڅخه انکاروکي اوداسی یې وفرمایل چې داځمکه ترقیامته پوری نه سی ویشل کیدای (اشعة اللمعات جلد ۳ /ص / ۴۸۰) باب الغنی اوداسی یې ورته وفرمایل چې که داکارتاسونه سی کولای وماته یې وسپاری زه به یې دمځکې په څیرڅارنه کوم دعباس ؓ اوعلی ؓ خونیت داسی وو چې هریوه ته دې دخپلی خپلی برخی نګرانی اوڅارنه بیل سی ددې لپاره چې په مینځ کې اختلاف رانه سی دپالنی اوڅارنی ویش یې غوښتی دمیراث ویشل یې نه غوښتل مګرعمرفاروق ؓ داهم ونه منله چې هسی نه چې وروسته بیاخلک داپالنه اوڅارنه دمیراث تقسیم وګڼی ترڅه وخته دوئ په دواړودبنونضیردځمکوپالنه کوله وروسته علی ؓ دعباس ؓ واک ختم کی اوټول ځمکه یې په خپل واک واخیسته اوپه خپله خوښه یې دهغې انتظام کوي دعلی ؓ پردې ځمکه باندی قبضه کول هم ددې دلیل دی چې داځمکه دعلی ؓ په نظرهم وقف وه دچاملک اومیراث نه وه ځکه دیوه متصرف دبل تصرف ختمول ظلم نه دی بلکې ډیر وخت داسی کار دمصلحت برابروی خودچاپه ملک

اومیراث قبضه کول ظلم دی اوعلی کرم الله وجهه دشیعه ګانوپه نزد معصوم اوداهل السنت والجماعت په نزد محفوظ دی له هغه داسی کارچې دچاملک اوجایدادقبضه کې نامکن کاردی اوبل داکه دامیراث وی نوپه دې کې له عباس ؓ پرته دامهات المؤمنین (رض) برخه هم وه دهغودبرخوورکول هم لازمی اوضروری وودعلی ؓ اوعباس ؓ له عمرفاروق ؓ څخه داسی غوښتنه چې ځمکه دې دوې برخی وویشل سی داهم ددې شاهدی ورکوی چې دهغوئ اختلاف دڅارنی اوپالنی له کبله وو دمیراث په څیرویشل هغوئ نه غوښتی ځکه بیابه یې پرډیروبرخوویشل غوښتی وو چې دامهات المؤمنین (رض) برخې به هم یې بیلی کړی وای اودمیراث ویشل ددوومالکانوپه مینځ کې عقلاً اونقلاً نه کاردی اوبل داچې عمرفاروق ؓ له دوئ دواړوداژمنه واخیسته چې

سیف لودین کتابتون

دلیل دی چی عمرفاروق ﷺ دوئ ته دځارونکواوپالونکوپه ځیرداځمکه ورکړی وه نه دمیراث په ډول ځکه که دمیراث په ډول وی نوبیاخودددوئ خپل ملک وو ددې شرط اینبودوبیاڅه معنی مالک ته خودخپل شئ اختیاروی په خپله برخه کې چی هرڅنګه تصرف کول غواړی کولای سی اوبل داچی دعمرفاروق ﷺ داخبره چی ترقیامته پوری زه ددې حکم مخالفت نه کوم په خپله ددې دلیل دی چی دامیراث ځمکه نه وه ځکه دمیراث په ویشلوکې هیڅ ګناه نسته هروارث ته دهغه دبرخی دویشلواوهغه ته په ورکولوکې هیڅ ګناه نسته بلکې اول ځل هم دعلی ﷺ اوعباس ﷺ تګ عمرفاروق ﷺ ته دپالنی اوځارنی دغوښتلولپاره وو لکه له (ادفعهاالینا) لفظ څخه داخبره ښکاره کیږی ځکه ددفع معنی د شئ سپارل ځاته اودمیراث اوتملیک په ډول سره شئ ورکولوته دفع لفظ نه استعمالیږی مګرابوبکرصدیق ﷺ دځارنی په ډول هم دوئ ته ونه سپارله ځکه دفاطمی رضی الله عنها دمیراث دغوښتلوقصه نوی وه اوداقصه دهرچاپه غوږکې وه که یې په دغه وخت کې دځارنی لپاره ورسپارلی وه نوخلکوبه دافکرکړی وو چی دادمیراث په وجه ورسپارل سوی ده اوله همدې کبله علی ﷺ اوعباس ﷺ لږخفه غوندی سو چی موږته یې دځارنی اوپالنی په ځیرهم نه سپاری اوکیدای سی چی دبشریت په تقاضا دوئ دافکرکړی وی چی داحدیث شریف چی (لانورث ماترکناصدقة) خوصحیح دی خوپه دې کې هم شک نسته چی موږددې اهل اوصلاحیت لروچی پالنه یې وکړو خوابوبکرصدیق ﷺ داځمکه په خپل لاس کې وساتله

ددوئ داړوخوښه ددوئ له حالته عمرفاروق ﷺ ته معلوم سویاخوبل چاورته وویل عمرفاروق ﷺ ځکه دوئ ته دتنبیه په ډول وویل چی آیاتاسو ابوبکرصدیق ﷺ دروغجن اوګنهګاراوخائن ګڼی کله چی له خپلوانواوملګروڅخه یوبی پروایې وکړی نوخلک مبالغة داخبره کوی چی آیاته ماخپل ورور اودوست نه بولی اوسره لدی چی په زړه کې یې دهغه مینه اومحبت وی خویوائې په ظاهرچی کومه خبره پیښه سوی وی نوخلک داسی وایې دتعریض اوملامتیاپه ځای کې داسی محاوره دالله ﷻ په کلام کې هم راغلی ده لکه الله تبارک وتعالی فرمایې ﴿حَتَّىٰ إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا جَاءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّيَ مَن نَّشَاءُ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ﴾ (۱۱۰سورة یوسف) یعنی تردی چی کله رسولان ناامیده سو اوهغوئ داخیال وکي چی دمرستی کومه ژمنه چی له دوئ سره سوی وه دانبیاء علیهم السلام په زړه کې دایقین وو چی دالله ﷻ ژمنه رښتینی ده یوه ورځ به رښتیاهم الله ﷻ خامخا مرسته کوی مګر دبشریت په تقاضاکله چی دانبیاء علیهم السلام په زړوکې بی اختیاره خفګان پیداسونوالله تعالی خپلودوستانواومحبینوته دشکایت اوملامتیاپه

سیف لودین کتابتون

طريقه مبالغة وفرمايل چې آيا دالله ﷻ د مرستې په وروسته کيدو کې تاسو داګمان کوئ چې معاذالله الله ﷻ له خپلو پيغمبرانو سره غلطې وعدې کړې وې د تعريض او ملامتيا په ځای کې داسې ويل کيږي

دغه رنګه عمرفاروق ؓ چې کله دعلي ؓ اوعباس ؓ له خبرو خبر سو چې دوئ له ابوبکرصديق ؓ څخه خفه غوندې دي نوعمرفاروق ؓ د محبت اومينې په ډول د ملامتيا په لهجه مبالغة داسې وويل چې آيا تاسو دواړه ابوبکرصديق ؓ دروغجن اوخائن اوګنهګار بولئ قسم په الله ﷻ ابوبکرصديق ؓ خو ډير د ښه عمل درلودونکې اودسمې لارې تلونکې دی د عمرفاروق ؓ خو دا يقين وو چې د علي ؓ اوعباس ؓ په زړه کې دابوبکرصديق ؓ محبت داسې پوخ او ټينګ دی چې په هيڅ ډول هغه نه سي وتلای ځکه له ژبې داسې خبر وتل چې له هغو څخه خفګان معلوميږي د ربښتينې دوستانو له شان سره مناسبې نه وې

دفدک خورمه باغ وو !

فدک يو کوچنی د خورما وو باغ وو چې له هغه څخه به رسول الله ﷺ د خپل کور اوعيال ته د قوت لايموت په اندازه د کال نفقه ورکوله او څه چې به پاته سو هغه به يې پر فقيرانو اوبې وزلو ويشې د نبي کريم ﷺ له وفات وروسته چې کله ابوبکرصديق ؓ خليفه سو نو په همدې وخت کې فاطمة الزهراء ؓ غوښتنه وکړه چې دا باغ دې ماته په ميراث کې راکول سي ؟ خو ابوبکرصديق ؓ په ځواب کې ورته وويل چې ما په خپله له رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې موږ انبياء عليهم السلام نه د چا وارث کيږو اونه زموږ څوک وارث کيږي څه چې موږ پريږدو هغه صدقه او وقف دی فاطمه ؓ چې دا خبره واوريده له نوډيره پښېمانه ياغمجنه سوه اوبيا يې په دې خبره کې هيڅ هم ونه ويل دفدک باغ يو کوچنی باغ وو څه دسلها ووزره يا ميليارد وباغ نه وو چې دهغه په اړه داسې ګمان وسي چې دوخت خليفه دالوی باغ غصب کړی وو ددې لپاره چې ددې باغ په حاصلاتو عيش اوعشرت وکړي هيڅ يوه خليفه ددې باغ په اړه د خپلو اولادو لپاره نه بيعه نامه اونه هبه نامه ليکلې ده بلکې په شرعي امورو کې به يې د هغه حاصلات مصرفول ترڅو چې علي ؓ خليفه سو نو هغه باغ هم په هغه زړه طريقه پاته سو د هغه باغ څارنه به ده په خپله کوله د تيرو خلفاء په څير به يې د هغه باغ ساتنه اوپالنه کوله او هيڅ ځانې تصرف يې په هغه کې نه دی کړی او علي ؓ د خپل خلافت په وخت کې ددې باغ چارې پرغاړه وې لکه څنګه چې به مخکې خلفاء کولې که دشيعه ګانو په خبره د فدک باغ داهل بيت حق سی اومخکنيو خلفاء هغه غصب کړی وی نوعلي ؓ د خپل خلافت په وخت کې هغه غصب ولې خپلو حقدارانو ته ونه

سيف لودين كتابتون

سپاری شیعه ګان دديږ په ځواب کښ وايي چې فدک غصب ځکه وه او د معصوموامامانو طريقه دادی چې غصب سوی شئ بيرته نه اخلی نو اهل سنت ددوئ په ځواب کښ وايي چې ستاسو په نزد خو فدک غصب سوی وو ځکه علی رضی الله عنه هغه حقدارانو ته ونه سپاری نو ستاسو په خبره خو خلافت هم غصب سوی دی نو څه وجه ده چې علی رضی الله عنه هغه ومنی يولوی شئ چې خلافت دی هغه يې واخيستی او معمولی شئ چې د فدک باغ وو هغه يې قبول نه کی او بيا د غصب د دعوه کونکو دا فکر نسته چې خلفاء کرام رضی الله عنهم خو د خلافت په وخت کښ فقيرانه او غريبانه ژوند تير کړی دی او اهل بيت ته به يې په يوه وخت کښ پنځوس پنځوس او شپيته شپيته زره درهم او دينار ور کول د هر ځل ورکړه آيا د فدک د باغ له قيمت څخه کمه ده يو حساب کونکي دی دديږ حساب وکړی چې دا خيراتونه او ډالی خو پر پرېږده ديوه ځل ورکړه وشميره کله چې شهربانو د ايران شهزادګۍ د هغه وخت د خليفه په لاس ورغله نو دوخت خليفه علی رضی الله عنه او حسنين رضی الله عنهما ته د غنيمت ورکولو وروسته درې واړو ته ديرش زره درهمه ورسيدل او له دې پرته يوائی امام حسين رضی الله عنه ته شهربانو له زيورات سره ورکړل سوه چې د هغې هره يوه ملغلره دومره ارزښتناکه وه چې ديوی ملغلری ارزښت کم از کم سل د فدک باغونه وو نو که بالفرض د فدک باغ يې غصب کړی وی خو کله چې تردی وروسته يې دومره ډير ارزښتناک تحفی او ډالی ورکړی چې په هغو سره زرګونه د فدک باغونه اخيستل کيږی نو شيعه ګان دې انصاف وکړی چې آيا دا شکايت بيځايه نه دی که يو سړی د چا يوه روپی غصب کړی او بيا هغه ته زر روپۍ ورکړی نو آيا دا به د شکر د ادا کيدو مستحق نه وی

د فاطمة الزهراء رضی الله عنها د غصې په اړه سوال او ځواب !

فاطمة الزهراء رضی الله عنها چې کله له ابوبکر صديق رضی الله عنه څخه د نبی کريم ﷺ د پاته سوی ځمکی څخه دخپلی برخی د ميراث غوښتنه وکړه نو ابوبکر صديق رضی الله عنه ورته وويل چې ما په خپله له نبی کريم ﷺ څخه اوريدلی دی چې د انبياء عليهم السلام په پاته شيانو کښ ميراث نه وی څه چې له دوئ پاته سی هغه ټول د الله جل جلاله په لارکښ وقف او صدقه دی کله چې نوموړی دا خبره ورته وکړه (فغضبت فاطمة بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم فهجرت ابابكر فلم تزل مهاجرته حتى توفيت (بخاری باب الخمس) پر دی خبره فاطمة الزهراء رضی الله عنها په غصه سوه او له ابوبکر صديق رضی الله عنه څخه ولاړه او له ده سره يې اړيکی وشلولی تر څو چې فاطمة رضی الله عنها وفات سوه

اوس سوال دا کيږی چې فاطمة رضی الله عنها د ارشاد نبوی چې (لانورث ماتركنا صدقة) په اوريدو سره ولی په غصه سوه د منلو پر ځای په غصه ولی سوه ابوبکر صديق رضی الله عنه خو ددې د مبارک پلار ﷺ دوينا په عمل کولو سره مجبور وو

سیف لودین کتابتون

او دشيعه ګانو په نزد خو فاطمه رضي الله عنها معصوم وه ځکه سوال د دوئ په اړوند ډير سخت دى چې په داسې وخت کې چې د رسول الله ﷺ د وفات وخت نژدې وو د دنيا د سپک شئ ځيرل او هغه ته دومره اهميت ورکول چې د خپل پلار مبارک ﷺ خسر او د پلار مبارک ﷺ له خليفه سره يې خبرې پريښودې دا خو د دې له شان سره مناسب نه دى ؟

د دې سوال ځواب لکه څنګه چې د اهل سنت په ذمه دى دغه رنګه د شيعه ګانو په ذمه هم دى اهل السنت ته خو د شيعه ګانو په څير د دې سوال ځواب هم لازم دى چې هسې نه چې يو خارجي د فاطمې رضي الله عنها په پاک شان کې څه ووايې چې د داسې حيرانونکي پيښې په وخت کې او د داسې غم او خفګان په حالت کې خو اول د ميراث غوښتنه ښه نه ده او بل دا چې د فاطمې رضي الله عنها له تقوى او پرهيزګارى سره مناسب نه دى او د شيعه ګانو په نزد خو فاطمه رضي الله عنها معصوم ده او کله چې ابوبکر صديق رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ ارشاد ورته بيان کې نو هغې ته په کار وو چې په زړه او ژبه سره يې منلې وه د دې پرځاى چې دا په غصه سې په دې پيښه کې خو په ابوبکر صديق رضي الله عنه باندې هيڅ سوال نه کيږي ځکه هغه خو د نبي کريم ﷺ د ارشاد په عملي کولو مجبوروو سوال يوائې د فاطمه رضي الله عنها په اړه دى نو شيعه ګان دې فکر وکړي او خپل ځواب دې ووايې موږ اهل السنت والجماعت د اهل بيت مريان يو د فاطمې رضي الله عنها د برائت او پاکۍ په اړه چې څه وايو هغه داسې دى

د اهل السنت والجماعة د فاطمة رضي الله عنها د غصه کيدو په اړه ځواب !

د فاطمې رضي الله عنها د غصه کيدو په اړه په رواياتو کې مختلف الفاظ راغلي دي په يو شمير رواياتو کې (فغضبت فاطمة) راغلي دى لکه چې مخکې تير سو او په يو شمير نورو رواياتو د بخاري او مسلم کې (فوجدت فاطمة) راغلي دي د صحيح بخاري جلد ٢ /ص /٦٠٩ باب غزوة خيبر کې داسې دى (فوجدت فاطمة على ابى بكر) راغلي دى د وجدت لفظ لکه څنګه چې د غضبت په معنى راځي چې پر غصه باندې دلالت کوي دغه رنګه د حزنت په معنى هم راځي چې پر غم او خفګان دلالت کوي فاطمې رضي الله عنها چې کله له ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه د خپل ميراث د برخې غوښته وکړه او ابوبکر صديق رضي الله عنه د دې ته د نبي کريم ﷺ حديث بيان کې نو کيداى سي چې هغه پردې غوښتنه پښيمانه سوې وي ځکه خفه سوې وي د دې دا فکر کړى وي چې ما دا غوښتنه ولې وکړه ځکه د پيغمبرانو او د الله جل جلاله د دوستانو دا طريقه ده چې که له هغوئ څخه لږ بې انصافي يا خطاء يا په ناخبرى کې يو کار وسي نو په هغه سره ډير پښيمانه کيږي لکه آدم عليه السلام چې په هيره سره ونه وخوړه او نوح عليه السلام په ناخبرى کې د خپل زوى لپاره دعا غوښتل او د موسى عليه السلام په قتل باندې شرمنده کيدل پردې باندې

سیف لودین کتابتون

پښيمانتيا دا خو په قرآن کريم راغلې دى نو کيداى سي چي فاطمه ؓ پردې خبره باندى پښيمانه سوى وي چي ما په ناخبرى کې ولې دميراث غوښتنه وکړه که زه مخکې په دې حديث شريف چي (لانورث ماترکنا صدقة) خبره وى نو ما به ولې دميراث غوښتنه کوله او په دې پښيمانى کې دفاطمى ؓ دناروغى سلسله پيل سوه چي دناروغى له کبله يې له ابوبکر صديق ؓ سره راشه درشه لږ سوه دمخکې په څېر نه وه او دنبي کريم ﷺ دوفات غم هم ددې له زړه نه وولېرى سوى معاذالله داسى نه وو چي دې بيخى له ابوبکر صديق ؓ سره هيڅ خبرى و نه کړى ځکه يو مخ خبرى پرېښودل خو تر درې ورځې زيات حرام دى او څه معنى دټول عمر لپاره او بل دا ټولو ته منل سوى خبره ده چي ابوبکر صديق ؓ دفاطمى ؓ محرم نه وو چي له هغې سره يې تل خبرې او راشه درشه درلوده او ويايې ددې خفګان په وجه پرى ايښى وى ځکه له غير محرم سره پرته له ضرورته خبرى جواز هم نه لرى

نو دفاطمى ؓ ديوا ځى والى او بيلوالى دليل په اصل کې ددې پښيمانتيا او خپله ناروغى او دنبي کريم ﷺ ودوفات غم وو خو په ظاهره دخلکو دا فکر وو چي کيداى سي چي دغصى او ناراضى له کبله دې راشه درشه له ابوبکر صديق ؓ سره لږ سوى وى نو روايت کونکو دخپلى رايه په خوښه سره روايت دغضبت په لفظ سره راوړى او ويايې دوجدت لفظ ترجمه په غضبت سره وکړه اصل او صحيح روايت (وجدت فاطمه ؓ) وجدت په معنى دحزنت سره دى نو په اصل کې غصه او ناراضى نه وه بلکې دبشرى تقاضا په بنياد يو طبعى خفګان وو چي دهغې دکمال شرافت دليل دى او په عارضى ډول باندى څه لږ خفه کيدل دنبوت دشان هم خلاف نه دى لکه دموسى ؑ او هارون ؑ په مينځ کې چي جګړه راغلې وه داسى کار و نه کله ناکله پيښيږى او ژر بيا له منځه ځى بلکې ډير وخت دمحبت دزيات والى سبب ګرزى

او که دا و منو هم چي فاطمه ؓ په دې هکله له ابوبکر صديق ؓ څخه خفه او غصه او ناراضه سوى ده بيا هم له دې څخه دابوبکر صديق ؓ قصور نه معلوميږى کيداى سي چي فاطمه ؓ دغلط فهمى په بنياد باندى ابوبکر صديق ؓ قصور واره ګڼلى وى او خفه او غصه سوى وى ديو خيال په بناء باندى پيغمبرانو ته هم په خپل مينځ کې غصه پيښيږى سره له دى چي دوئ خو يقينى معصوم دى لکه دموسى ؑ غصه کيدل په هارون ؑ باندى دوئ دواړه ماجور او معذور او بى ګناه دى دغه رنګه دلته دميراث په غوښتنه کې فاطمه ؓ او ابوبکر صديق ؓ دواړه بى ګناه او دواړه ماجور وګڼه

او که پردى باندى هم شيعه ګان ابوبکر صديق ؓ ګنهګار بولى نو دا فکر دى وکړى چي کله ابوبکر صديق ؓ توبه وکښه او دفاطمى ؓ کورته ورغلى او هغه يې خوشحاله او راضى

سیف لودین کتابتون

کړه نو شیعه ګان ته هم په کار دي چې دوئ له ابوبکرصدیق رضی الله عنه څخه راضي سي ځکه د دوئ په فکر فاطمه رضی الله عنها معصوم ده او د معصوم پیروي لازمي ده او د معصوم مخالفت ناجائز دی نو کله چې فاطمه رضی الله عنها له ابوبکرصدیق رضی الله عنه څخه راضي سوه نو اوس شیعه ګانو ته هم په کار دي د دوئ د مذهب په بنیاد باندي چې له ابوبکرصدیق رضی الله عنه څخه راضي او خوشاله سي د فاطمی رضی الله عنها له خوشاله کیدو وروسته که څوک خفه کیږي نو خفه دي سي مو ږ ته د دوئ څه فکر نسته او نه د دوئ د خفګان څه پروا لرو فاطمه رضی الله عنها خو له ابوبکرصدیق رضی الله عنه څخه خوشاله سوه اوس دا خبره پاته سوه چې فاطمي رضی الله عنها د داسي غم او خفګان په وخت کې د میراث غوښتنه ولي وکړه ؟ نو ځواب دادی چې معاذالله د دې هدف مال او درو پولاسته راوړل نه وو بلکې د تبرک لپاره وو یعني د مبارک پلار نبي کریم ﷺ د یادګار لپاره یې غوښتنه وکړه او بل دا چې د حلال رزق غوښتنه د الله ﷻ د دوستانو او پرهیزګارو لومړی کار دی او ښکاره خبره ده چې د نبي کریم ﷺ تر پاته میراث به په دنیا کې بل هیڅ پاک شئ نه وي ځکه په دې مال کې د هیڅ رنګه حرمت یا کراهت احتمال هم نسته نو فاطمي رضی الله عنها دا فکرو کی چې که د نبي کریم ﷺ میراث ما ته ورسیږي نو له شکه خلاص حلال رزق به وي او د نبي کریم ﷺ تبرک او دغه یادګار به زما د زړه تسل سي ..

پاملرنه !

شیعه ګان وایې چې فاطمه رضی الله عنها په ابوبکرصدیق رضی الله عنه باندي غصه سوې ده او په حدیث شریف کې راځي چې (فاطمة بعضة مني من اغضبها فقد اغضبني) یعني فاطمه رضی الله عنها زما د زړه ټوټه ده چا چې فاطمه خفه کړه هغه زه خفه کړم نو دلته ابوبکرصدیق رضی الله عنه په دې کې نه دی داخل ځکه په غضب او اغضاب کې د ځمکې او اسمان په څیر فرق سته د غضب معنی ده غصه کیدل او د اغضاب معنی ده بل څوک په قصد سره خفه کول او غصه کول نو ابوبکرصدیق رضی الله عنه خو پر فاطمه رضی الله عنها باندي غصه نه ده کړې بلکې د نبي کریم ﷺ ارشاد یې ورته بیان کی خو دا نه ده معلومه چې فاطمه رضی الله عنها ولي خفه سوه شیعه ګان دي وایې چې بې معنی ولي غصه سوه اهل السنت خو دا نه مني چې دا په غصه سوه زمو ږ په نزد خو فاطمه رضی الله عنها د ناخبري په وجه د میراث غوښتنه وکړه او ابوبکرصدیق رضی الله عنه چې کله حدیث شریف ورته بیان کی دا په دې بیځایه غوښتنه پښیمانه سوه او د شرم په وجه یې له ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته تګ راتګ کم سو د مځکې په څیر نه وو او بل ورپسې ناروغه سوه نو د خلکو دا فکر سو چې فاطمه رضی الله عنها په غصه سوه او بل دا چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه خو د دې محرم نه وو چې له نو موړې سره هروخت بې له اړتیا خبري او راشه درشه وه د خپل ضرورت په اندازه وه کله چې دې ته خبره روښانه سوه نو بیا یې د دې مسئلې هیڅ یاد و نه نه وکړه او نه یې د یا دید لو اړتیا پاته سوه او بل دا چې علي

رضي الله عنه په ټولو حالاتو کې له ابوبکرصدیق رضي الله عنه سره یو ځای وو او په هغه پسې یې لمنځونه کول اوبل دا چې ابوبکرصدیق رضي الله عنه دفاطمه رضي الله عنها کورته ورغلی چې کیدای سی چې داله ماخفه سوی وی هغې ته یې عذروړاندی کی چې زه خومعذوریم دنبی کریم ﷺ دقول په عملی کولو مجبوریم اوفاطمه رضي الله عنها هم له ده خوشاله سوه اونوموړی بیرته خپل کورته راغلی معاذالله ابوبکرصدیق رضي الله عنه دامارت اوخلافت په نشه کې نه وو چې دفاطمی رضي الله عنها یې هیڅ پوښتنه ونه کړه دنبی کریم ﷺ دزړه دټوټی په خفګان باندی ناآرامه وو اودهغې کورته ورغلی اوهغه یې خوشاله اوراضی کړه اوس که شیعه ګان په دې غوښتنه باندی هم بسنه نه کوی اوبیاهم ابوبکرصدیق رضي الله عنه ګنهګاربولی نوبیاغوښتنه داده چې ابوبکرصدیق رضي الله عنه خوفاطمه رضي الله عنها څه ناراضه کړه اوبیرته یې خوشاله کړه علی رضي الله عنه چې کله دابوجهل له لورسره دنکاح نیت وکی په دغه وخت کې یې بیاعلی رضي الله عنه فاطمه رضي الله عنها ناراضه کړه چې په هغه خبره باندی نبی کریم ﷺ خطبه وویله اوداسی یې وفرمایل (فاطمة بضعة منی من اغضبها فقد اغضبنی) اوس تاسوداووایاست اې شیعه ګانوچې علی رضي الله عنه ولی دانیت وکی له ابوبکرصدیق رضي الله عنه خوداحدیث نبوی چې (لانورث ماترکناصدقة) موجودوو له علی رضي الله عنه سره خو حدیث هم نه وو اوله دې پرته په کورکې به دعلی رضي الله عنه اوفاطمه رضي الله عنها په مینځ کې کله ناکله خامخاخفګان راتلی لکه یوه ورځ چې علی رضي الله عنه خفه سوراغلی اوپه مسجد کې پروت وو کله چې نبی کریم ﷺ ولیدی نودابوتراب په لقب سره یې ورته وویل

دنبی کریم ﷺ میراث دټول امت لپاره وقف دی !

له ابوبکرصدیق رضي الله عنه اوعمرفاروق رضي الله عنه اوعثمان غنی رضي الله عنه اوعلی المرتضی رضي الله عنه اوعائشه صدیقه رضي الله عنها اونوروڅخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې زمونږیعنی انبیاء علیهم السلام په مال کې میراث نسته مونږچې څه پریږدو هغه ټول دالله عزوجل په لاره کې خیرات اووقف دی ؟

(**لومړی**) حکمت دادی چې خلکوته معلومه سی چې انبیاء علیهم السلام چې دحق دین په تبلیغ اوبلنه کې کوم تکلیفونه اوستونزی ګاللی دی هغه ټولی یوائحی دالله تعالی لپاره دی په دې سره ددنیاهیڅ ګټه نه وه په نظرکې تردې چې خپل اولادته یې هم په دې کې برخه نه رسیږی

(**دویم**) رازاوحکمت دادی چې انبیاء علیهم السلام دامت په حق کې دروحانی پلارپه شان دی نوددوئ مال به دټول امت لپاره وقف وی دخاص افرادولپاره نه دی

(**دریم**) حکمت : دادی چې انبیاء علیهم السلام هروخت دالله عزوجل په دربارکې حاضراومقیم اوسیږی اودمالک حقیقی مالکیت هروخت ددوئ سترګوته حاضروی ځکه انبیاء علیهم السلام هیڅ وخت خپل ځانونه دهیڅ شئ مالک نه بولی لکه چې

سیف لودین کتابتون

دبزرګانو دا خبره ده (الانبیاء لایشهدون ملکا مع الله) انبیاء علیهم السلام دالله ﷻ په مخکې دهیڅ شئ ملیکت ته نه ګوری دعامو خلکو له نظره دمالک حقیقی ملکیت پټ دی ځکه هغوئ خپل ځانونه مجازی مالکان ګڼی خوانبیاء علیهم السلام خپل ځانونه مجازی مالکان هم نه بولی کوم شئ چی ددوئ په لاس کې وی هغه دالله ﷻ ګڼی او داعقیده لری چی موږ دالله تعالی پرسترخان ناست یو موږ ته دلدی څخه دګټی اخیستلو اجازه سته ځکه دانبیاء علیهم السلام په مالو کې زکوة نه واجبیږی او نه له وفات وروسته ددوئ په مال کې میراث شته او نه وصیت کیږی ..

له وفات وروسته دنبی کریم ﷺ ژوند!

دټولو اهل السنت والجماعت عقیده داده چی انبیاء علیهم السلام له وفات کیدلو وروسته په خپلو قبرو کې ژوندی دی لمونځ کوی او په عبادت مشغول دی او دانبیاء علیهم السلام ژوندکه څه هم موږ نه وینو مګر له شکه خلاص ددوئ ژوند حسی او جسمانی دی ځکه روحانی او معنوی ژوند خو دعامو مؤمنانو نه بلکې دکافرانو ارواحو ته هم حاصل دی

له صحیح احادیثو څخه دا ثابتیږی چی مړی اوری مګر ځواب نه سی ورکولای دبدر مړیو ته دنبی کریم ﷺ خبری کول په صحیحینو او داحادیثو په ټولو کتابو کې یادسوی دی او مشهوردی او بل په حدیث شریف کې راغلی دی (مامن احد یمر علی قبر اخیه المؤمن کان یعرفه فی الدنیا فیسلم علیه الاعرفه ورد علیه السلام رواه ابن عبدالبر وصححه ابو محمد عبدالحق وقال صلی الله علیه وسلم ان المیت یعرف من یغله ویحمله ویدلیه فی قبره رواه احمد وغیره)

ژباړه: هرڅوک چی دخپل مومن ورو په قبر تیرسی او هغه یې ترمرګ مخکې په دنیا کې پیژنی او دهغه په قبر سلام واچوی نو هغه مړی هم هغه سړی پیژنی او دهغه دسلام ځواب ورکوی ددې حدیث روایت حافظ عبدالبر کړی دی او شیخ عبدالحق صحیح ورته ویلی دی او همدا رنګه دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی په تحقیق سره مړئ هغه سړئ پیژنی چی دته غسل ورکوی او څوک چی یې پورته کوی او څوک چی یې په قبر کې ایږدی ددې حدیث روایت امام احمد او نورو کړی دی

په مسند ابی یعلی کې له انس بن مالک ﷺ څخه روایت سوی دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل (الانبیاء احیاء فی قبورهم یصلون) انبیاء علیهم السلام ژوندی په خپلو قبرو کې لمونځ کوی ،، شیخ الاسلام دهلوی په شرح بخاری کې ددې حدیث له راوړلو وروسته وایې (ازاین احادیث معلوم شود که انبیاء علیهم السلام زنده اند درقبر بعدازوفات بحیات حسی واجسا د ایشان نیز ثابت باشند وبوسیده نګردند وانحیات همچو حیات دنیاباشد باوجود استغناء ازغذا وباحصول قوت نفوذ درعالم چه غذا از اسباب عادی است که در دنیا حیات بدان مشروط است

سیف لودین کتابتون

وخداتعالی قادر است که بی آن نیز زنده دارد احداث وایجاد بعضی احوال واعراض دربدن کند که التفات واحتیاج بغذاامر تفع گردد (شرح شیخ الاسلام جلد ۶ /ص / ۱۴۷،، ومدارج النبوة جلد ۲ /ص / ۵۰۶ کتاب الانبیاء رجعه فقد فصل الکلام فیه)

شیخ جلال الدین ودې حدیث ته حسن ویلی دی اوعلامه مناوی په فیض القدیرشرح جامع الصغیرکې وایې چی داحدیث صحیح دی اوعلامه سیوطی په مرقاة السعود حاشیه سنن ابی داؤدکې وایې چی دانبیاء علیهم السلام دژوندپه اړه احادیث دتواترحدته رسیدلی دی اوپه انباه الاذکیاء بحیاة الانبیاء کې فرمایې (حیات النبی صلی الله علیه وسلم فی قبره هو وسائر الانبیاء معلومة عندنا علماقطعیا لماقام عندنا من الادلة فی ذلک وتواترت به الاخبار الدالة علی ذلک) ژباړه : دنبی کریم ﷺ ژوندپه خپل قبرکې اودټولوانبیاء علیهم السلام ژوندپه خپلوقبرونوکې یقینی اوقطعی دی داموږته په قطعی دلائلومعلوم دی چی انبیاء علیهم السلام ژوندی دی په قبروکې اوله احادیث متواتره ووڅخه ثابت دی اوپردې باندی شاهددی اوددې حدیث څخه یوائحی دانبیاء علیهم السلام ژوندمقصودنه دی بلکې هدف دادی لکه څنګه چی انبیاء علیهم السلام په دنیاکې په عبادت مشغول وو دغه رنګه په برزخی ژوندی کې هم په په عبادت بوخت دی دبلاغت قانون دی چی دکلام په پای کې آخری قیددکلام لپاره محیط وی نوځکه احیاء فی قبورهم یصلون کې مقصود دکلام صلاة اوعبادت په قبرکې دی ددې بیان کول هدف اومقصوددی اصل ژوندخوامر مفروغ دی یصلون مخکې ژوند یوائحی دتمهیدلپاره دی اومقصوددادی چی دانبیاء علیهم السلام پاک بدنونه که څه هم له دې دنیاڅخه بلی دنیاته نقل سوی دی مګر ددنیاپه څیرې بدنونه په عبادت بوخت دی اودژونداعمالواوزندګی په څیرجاری دی اوپه عملواوشغل کې دلمانځه تخصیص ځکه وکی ځکه ترایمان وروسته لمونځ دی اولمونځ دانبیاء علیهم السلام دسترګویخوالی دی لنډه داچی دانبیاء علیهم السلام ژوندبدنی دی نه روحانی ژونددی . له دې کبله ترمرګ وروسته روحانی ژونداوادریدل اوحس دانبیاء علیهم السلام سره خاص نه دی بلکې دااحادیث صحیحه له ډیرو راویانوروایت سوی دی اوحدیث مقصوددانبیاء علیهم السلام خصوصیت اوامتیازبیانول د ی(۱) په حدیث شریف راغلی دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل چی دجمعی په ورځ په مابانـدی ډیر درود وایاست ځکه ستاسو درود ماته وړاندی کیږی صحابه کرام ﷺ پوښتنه وکړه چی یارسول الله (کیف تعرض صلاتناعلیک وقدارمت یقولون بلیت فقال ان الله حرم علی الارض ان تأکل اجساد الانبیاء اخرجه ابوداؤد وقال البیهقی له شواهد وقال العلامة القاری رواه ابن حبان فی صحیحه والحاکم وصححه وقال النووی اسناده صحیح آه (۲)

سیف لودین کتابتون

ژباړه : زموږ درود تاته څنګه وړاندې کیږي اوسره له دې چې له مرګ وروسته به بدن رژیدلی وي نبي کریمﷺ وفرمایل چې په تحقیق سره پرځمکه باندې حرام ګرزول سوي دي دانبیاء علیهم السلام بدنونه دانبیاء علیهم السلام بدنونه نه خاوري کیږي امام بیهقي وایې چې ددې په اړوندنوشواهدهم سته اوداحدیث صحیح دی اودصحابه کرامؓ داپوښتنه اودرسول اللهﷺ داسي ځواب ددې ښکاره دلیل دی چې له ژوندځخه بدني ژوندمراددی عارضي اوروحاني ژوندی نه دی مرادځکه که یوائې روح مبارک ته ددرودوړاندې کیدل مرادوي نوصحابه کرامؓ داولی ویل چې (قدارمت) چې ستابدن خوبه رژیدلی وي ځکه له مرګ وروسته خوبدن خاوري کیږي اودنبي کریمﷺ داځواب چې الله تعالی دانبیاء علیهم السلام بدنونه پرځمکه باندې حرام کړي دي ټول به بې معنی سي یوائې داعمالو وړاندې کولولپاره دبدن روغ پاته کیدل ضروري نه دي نبي کریمﷺ به ځواب ورکړی وو چې تاسي دبدن پوښتنه ولی کوي ځکه ستاسودرود خوزماروح ته رسیږي اویوائې دانبیاءعلیهم السلام ارواحوته اعمال وړاندې کول تردوئ پوري ځانګړې هم ندي بلکې له احادیث صحیحه څخه داخبره ثابت دی چې مړی سلام اوري اوخبري اوري اوپه یوشمیرورځوکې دوئ ته دخپلوانو اعمال وړاندې کیږي لکه څنګه چې په شرح الصدورکې علامه سیوطي مفصل بحث کړی دی چې روح متصل په بدن پوري دي په قبرکې دامت اعمال وړاندې کیږي دادرسول اللهﷺ خصوصیت دی داد علامه قاري دخبروښننه وه چې په مرقاة شرح دمشکوة کې (۲) اوپه سنن ابن ماجه کې له ابودرداءؓ څخه روایت سوي دی چې نبي کریمﷺ فرمایې چې دجمعې په ورځ په ماباندې په ځانګړې ډول درود وایاست دجمعې په ورځ مشهوره خبر داده چې ډیري ملائکه وي حاضریږي هرسړی دې پرمادرودوایې . ابودرداءؓ وایې چې ماپوښتنه وکړه (وبعدالموت قال ان الله حرم على الارض ان تأكل اجساد الانبياء فنبي الله حي يرزق (رواه ابن ماجه قال الدميري رجاله ثقات كذا في فيض القدير جلد۲/ص/۸۷)ژباړه : ترمرګ وروسته هم زموږ درود تاته وړاندې کیږي رسول اللهﷺ وفرمایل چې په تحقیق سره اللهﷻ په ځمکه حرام کړي چې هغه دانبیاء علیهم السلام بدنونه وخوري نوداللهﷻ نبيﷺ په قبرکې ژوندی وي اوداللهﷻ له لوري روزي ورکول کیږي وقال الزرقاني رواه ابن ماجه ورجاله ثقات من ابي درداءؓ مرفوع الخ زرقاني جلد ۵ /ص / ۳۳۶)

---

(۱) پوشیده نماندکه دیدن آحضرات انبیاء علیهم الصلوة والسلام وتکلم انها چنانکه درحدیث مذکوربود منسوخ پیوسته ناظرور آن است که انهاباشخاص واجسادديده وقول مختارومقررمجبورهم اینست که انبیاء علیهم السلام بعدازوفات صورت زنده اندبحیات دینوی ، تیسیرالقاری جلد ۲ /ص / ۲۶۲باب ذکرادریسؑ یعنی مانندحیات بلکه حیات برزخی ایشان اعلی واقوی است ازحیات دنیویه بمراتب که عقل ازتصورآن قاصراست ۱۲)

(۲) مرقات المفاتیح جلد ۲ /ص / ۱۲۰)

سیف لودین کتابتون

شیخ تقی الدین سبکی وایې چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه او عمرفاورق رضی الله عنه به په مسجدنبوی کې په لوړآواز خبری کول نه خوښول اوچاچې به په لوړآواز خبری کولی نودابه یې ورته فرمایل (لقدآذیت رسول الله صلی الله علیه وسلم) په تحقیق سره تاپه لوړآواز سره رسول الله ﷺ ته په قبرکې ضرر ورسوی نوله دې معلومه سوه چې دابوبکرصدیق رضی الله عنه او عمرفاورق رضی الله عنه په نزد رسول الله ﷺ له بدن اطهرسره ژوندی دی اوځرنګه چې دخدای ﷻ له حکم سره سم

﴿یَا اَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لاَ تَرْفَعُوا اَصْوَاتَکُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِیِّ وَلاَ تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ کَجَهْرِ بَعْضِکُمْ لِبَعْضٍ اَن تَحْبَطَ اَعْمَالُکُمْ وَاَنتُمْ لاَ تَشْعُرُونَ﴾ (۲) آیت سورة الحجرات)

لکه څنګه چې په دنیاکې دنبی کریم ﷺ مخ مبارک ته په لوړآواز خبری کول منع وی دغه رنګه په برزخی ژوندی کې هم دنبی کریم ﷺ قبرته نژدی په لوآواز خبری منع دی ..

اوله ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها داسی حالت وو چې دمسجدنبوی پوری موښتی کوټه کې اوسیده چې چابه په دیوال کې میخ یابل شئ ټک وهی اواواز به یې حجری ته ورسیدی نوصدیقه رضی الله عنها به سمدستی هغه خلکوته خبرورکي چې (لاتؤذ رسول الله رسول الله صلی الله علیه وسلم) رسول الله ﷺ ته تکلیف مه رسوی په دیواله کې دمیخ یامورې په ټک وهلوسره

شیخ سبکې وایې چې دټولوصحابه کرام رضی الله عنهم اوسلف صالحینو هم همداعمل وو چې درسول الله ﷺ په ادب اوتعظیم کې به یې په مسجدنبوی کې لوړآوازونه نه پورته کول

کماقال الله تعالی : ﴿إِنَّ الَّذِینَ یَغُضُّونَ اَصْوَاتَهُمْ عِندَ رَسُولِ اللهِ اُولَئِکَ الَّذِینَ امْتَحَنَ اللهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَی لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَاَجْرٌ عَظِیمٌ﴾ (۳) آیت سورة الحجرات)

دملائکه ووسردار جبرئیل آمین علیه السلام یوه ورځ دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوپه ډیردرناوی اوآدب درسول الله ﷺ په مخکې مبارک کې په زنګنوکیناستی اووې ویل (أأذنومنک یارسول الله ﷺ) که اجازه وی تاته به نژدی کښینم رسو ل الله ﷺ اجازه ورکړه جبرئیل علیه السلام دنبی کریم ﷺ ددواړوزنګنوپه ګونډولاسونه کیښودل اواجازه یې وغوښته اودوفات په ناروغی کې چې کله ملک الموت درسول الله ﷺ خذمت ته حاضرسونوپه ډیردرناوی اومینه اوپه سوکه آوازیې دروح دقبض کولواجازه وغوښتله ،

شفاء الاسقام صفحه ۵۴ ویؤیدذلک ماقال الله تبارک وتعالی﴿إِنَّ الَّذِینَ یُنَادُونَکَ مِن وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ اَکْثَرُهُمْ لاَ یَعْقِلُونَ﴾ (۴) آیت سورة الحجرات)

له ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : (من صلی علی عندقبری سمعته ومن صلّی علیّ نائیاً بلغته) ژباړه : هرڅوک چې زماله قبرسره نژدی په ماباندی درودوایې هغه زه په خپله اورم اوڅوک یې چې لیری وایې هغه دفرشتوپه ذریعه ماته رارسول کیږی اوښکاره خبره ده چې دافرق دبدنی ژوندسره دی نه له روحانی ژوندسره علامه مناوی

سیف لودین کتابتون

دده حديث په شرح کې ليکلي دي (وذلک لان لروحه تعلقا بمقر بدنه الشريف وحرم على الارض ان تأكل اجساد الانبياء فحاله كحال النائم الذى ترق روحه بحسب قدرة عند الله فى الملكوت الاعلى ولها بالبدن تعلق ولذا اخبر بسماعه صلاة المصلى عليه عند قبره وذا لا ينافيه مامر فى خبره حيثما كنتم فصلوا على من ان معناه لا تتكلفوا المعاودة الى قبرى فان صلاتكم تبلغنى حيث كنتم ماذلک الالان الصلاة فى الحضور مشافهة افضل من الغيبة لكن المنهى عنه هو الاعتياد الرافع للحشمة المخالف لكمال الهيبة والاجلال آه)

ژباړه : هرڅوک چې زماله قبرسره نژدې په ماباندې درود ولولي هغه زه په خپله اورم اوڅوک چې يې ليرې ووايې نوهغه ماته دفرشتوپه ذريعه رارسيږي اوښکاره خبره ده چې دافرق دبدني ژوندسره دی نه له روحاني ژوندسره علامه مناوی دده حديث په وضاحت کې ليکلي دي چې دده وجه داده چې درسول الله ﷺ مبارک روح دنبي کريم ﷺ له پاک بدن سره دهغه په قبرکې شته اوپرڅمکه دانبياء عليهم السلام بدن خاوی کول منع دی نوپه قبرکې رسول الله ﷺ داسې دی لکه څنګه چې دخوب په حالت کې څوک وی دهغه روح پورته کيږي په اعتباردقوت دده څومره چې دالله ﷻ خوښه وی دده دخپلې مرتبې په اندازه هغه دالله ﷻ سره په عالم ملکوت کې لوړوی سره له دې چې دهغه روح دهغه له بدن سره هم تعلق لري له دې کبله نبي کريم ﷺ خبرورکړی دی چې څوک زماله قبرسره نژدې په ماباندې درود ولولي نوزه هغه په خپله اورم اوکه داتيرسوی حديث دده حديث ضدنه دی چې په هغه کې راغلي دي چې تاسوچې هرځای ياست په مادرود لولئ ځکه دده دحديث معنی داسې دی چې په واروار زماقبرته دراتلوتکليف پرځان مه وړی بلکې ستاسودرود اوسلام ماته رارسول کيږي له دې خبرودامعلومه سوه چې درسول الله ﷺ قبرمبارک ته دورتګ اوپه خپله هلته درود اوسلام ويل ترغائب ډير غوره اوښه دی خوداسې حاضريدل چې دبارګاه نبوت په عظمت اوجلال کې کمی راځي بيايې منع فرمايلې ده ..

اوپه مسند بزارکې په حسن سند سره له عبدالله بن مسعود ؓ څخه مرفوعاً روايت سوی دی چې دأمت اعمال رسول الله ﷺ ته وړاندې کيږي اورسول الله ﷺ دبښنې دعاء ورته کوی (۱) له دې ټولورواياتو څخه داخبره په ډاګه سوه چې نبي کريم ﷺ اونورانبياء عليهم السلام په قبروکې ژوندي دي اوددوئ بدنونه مبارک له خاورې کيدو اورژيدو څخه خوندي دي اوله وفات وروسته دوئ خپل عبادت کوی لمونځ کوی اودالله ﷻ له لوری دوئ ته روزی ورکول کيږي اودنبي کريم ﷺ مبارک قبرته چې څوک ورشي اوصلاة اوسلام پروو‌ايې نونبي کريم ﷺ خپله دده درود اوسلام اوری اودأمت ټول عملونه ونبي کريم ﷺ ته په قبرکې وړاندې کيږي داټول اموردده قطعي دليل دی چې انبياء عليهم السلام په قبروکې

(۱) جذب القلوب صفحه ۲۰۴

سیف لودین کتابتون

ژوندی دی او داژوندروحی ژوندی نه دی بلکې له بدن سره تعلق لری لنډه داچې دانبیاء علیهم السلام ژوندپه قطعی دلائلوسره ثابت دی اوداښکاره خبره ده چې امت دهغه مبارک بدن له وفات وروسته په قبرکې کیښودی اوپه شریعت مطهره کې دهغه دزیارت کولوټینګارسوی دی اوپه قبرمبارک کې دامت عملونه رسول الله ﷺ ته وړاندی کیږی اونبی کریم ﷺ په قبرکې لمونځ کوی اوالله ﷻ ورسول الله ﷺ ته په قبرکې روزی ورکوی اودانبیاء علیهم السلام بدنونه ښخول ثابت دی چې په دې کې هیڅ شک نسته اودبدن وړل بل ځای ته هیڅ ځای نه دی ثابت سوی اوله احادیث متواتره ووځخه ثابت دی چې دانبیاءعلیهم السلام ژوند ثابت دی هغه ژوندی دی په قبروکې نه ژوندپه اسمانوکې (۱) اوپه قبروکې دانبیاء علیهم السلام بدنونه دی نوله دې ثابته سوه چې انبیاء علیهم السلام ژوندی دی په بدن سره اودروح اصل تعلق له بدن سره وی په قبرکې لنډه داچې له دی روایاتوځخه داخبره ښه روښانه کیږی چې له وفات وروسته دنبی کریم ﷺ اصل ځای قبرمبارک دی اودرسول الله ﷺ بدن مبارک خوندی دی نه داچې په اسمان یاپه هغه ځای کې دی چې دهغه روح تعلق ورسره لری اوپه دغه ځای کې ونبی کریم ﷺ ته دامت عملونه وړاندی کیږی اوله دې ټولوخبروسره دنبی کریم ﷺ دروح مبارک له لوړعالم سره هم اړیکی ستنه نوځکه که چیری دنبی کریم ﷺ روح مبارک دسیل اوتفریح لپاره په اعلی علین اوملکوت السموات والارض کې دالله ﷻ په غوښتنه چیری چې وغواړی هلته تللای سی نودهغه ضدنه دی دالله ﷻ خوښه ده چې خپل غوره بندګان چیری چې وغواړی هلته رسوی سیل ورباندی کوی اودآخرت امور اوحالات داهل برزخ ددنیاپه احوالوقیاس کول ډیره ناپوهی ده علامه قاری په شرح شفاء کې لیکي (۱)

المعتقد المعتمد انه صلی الله علیه وسلم حی فی قبره کسائر الانبیاء فی قبورهم وهم احیاء عندربهم وان لارواحهم تعلقا بالعالم العلوی والسفلوی کماکانوا فی الحال الدنیوی فهم بحسب القلب عرشیون وباعتبار القالب فرشیون والله سبحانه اعلم باحوال ارباب الکمال هذاشرح شفاء ژباړه : هغه عقیده چې هغه دتیروسواوخلف دباور وړده هغه دادی چې نبی کریم ﷺ په خپل قبرمبارک کې ژوندی دی لکه څنګه چې نورانبیاء علیهم السلام ژوندی دی اوددوئ ارواح طیبه په یوه وخت کې له عالم علوی اوسفلوی سره اړیکی لری لکه څرنګه دنیاوی ژوندکې له دواړه عالم سره تعلق وی دغه رنګه وروسته له وفات هم له دواړه عالم سره تعلق لری په اعتبار دزړه سره عرشیون دی اوپه اعتبار دبدن سره فرشیون دی الله تعالی دپوره کمال خاوندان ښه پیژنی ..

---

(۱) پوشیده نماندکه دیدن آن حضرت صلی الله علیه وسلم ودیگرانبیاء علیهم السلام وتکلم انهاچنانکه درحدیث مذکور بوضوح پیوسته نظردراین است که انهاباتحاداجساداست وقول مختارجمهوراینست که ابیناء علیهم السلام بعداذاقت موت زنده اندبحیات دنیوی کذافی تیسیر القاری جلد ۲ ص ۳۱۲ باب ذکرادریس ؑ یعنی حیات انبیاء علیهم السلام دربرزخ مانندحیات دنیوی است بلکه حیات برزخی آن بزرگان اعلی واقوی است از حیات دنیویه [illegible]

سیف لودین کتابتون

انبیاء علیهم السلام په خپلو قبروکې ژوندی دی په لمانځه اوعبادت بوخت دی مګر د معراج په شپه (۱) ټول انبیاء علیهم السلام دنبی کریم ﷺ دلیدولپاره مسجداقصی ته راغلی وو اوبیاچی کله نبی کریم ﷺ ځوک غوښتل په آسمانوکې نوله هغوسره یې ولیدل اوښکاره خبره دادی چی دانبیاء علیهم السلام دمعراج لیدنه په روح اوبدن دواړوسره یوځای وه لکه څرنګه چی شیخ نورالحق دهلوی په تیسیرالقاری شرح بخاری کې لیکلی دی اوداهم کیدای سی چی دمعراج په شپه دانبیاء علیهم السلام اصل بدنونه مبارک خوددوئ په قبروکې پاته وو مګر په مسجداقصی کې درسول الله ﷺ دلیدلولپاره ددوئ ارواح مبارک ددوئ دبدنوپه شکل جوړسوی وی اورایوځای سوی وی مګرښکاره اومشهوردادی چی انبیاء علیهم السلام په همدغوبدنولکه څنګه چی په دنیاکې وو کوم چی په قبروکې خوندی اوروغ پراته وو درسول الله ﷺ ملاقات ته راغلی وو اودقدرت قدیمه په لحاظ روحانی اوبدنی ځمکی اواسمان ته اوهرڅنګه نقل له یوه ځایه بل ځای ته داټول یوشان دی لنډه داچی داله امکان لیری بلل اودطبیعت په غوښتنه پریکړه کول اوداحادیثوردول دبی عقلی اوبی دینی دلیل دی اواصل حقیقت الله تعالی ته معلوم دی چی په کوم کیفیت اوپه کوم شان سره ددوئ لیدنه کتنه وسوه ..

په حدیث کې راغلی دی چی دمؤمن قبر به پراخ سی اودجنت یوه باغچه به ځنی جوړه سی نوکه دجنت مبارک اوپاکه باغچه دلوړجنت یوه نمونه جوړه سی داهیڅ لیری نه دی

عثمان غنی ؓ ته دمحاصری په وخت کې چاوویل چی شام ته ولاړسه ترڅوهلته له دې فتنی اوغمه خلاص سی خونوموړی وفرمایل چی زه هجرت اودرسول الله ﷺ ملګری نه سم پریښودای

یوځل علی کرم الله وجهه دخپل بهیرجوړکې ترڅودهغه جوړونی اواز مسجدنبوی ته ونه رسیږی چی له دې کبله نبی کریم ﷺ ته تکلیف ونه رسیږی (زرقانی شرح مواهب جلد ۸ اص/۳۰۴ شفاء الاسقام صفحه ۱۷۳) ابونعیم اونورو له سعدبن مسیب ؓ څخه روایت کړی دی چی په هغه ورځوکې چی دحره واقعه پېښه سوه نوپه مسجدنبوی کې پرته له مابل ژوندی نه وو نوپه دغه ورځوکې چی به کله دآذان اولمانځه وخت راغلی نودنبی کریم ﷺ دقبرمبارک څخه به دآذان غږراتلی ماچی به کله هغه واوریدی نودهغه برابربه مې لمونځ آداکوی تردرې ورځوپوری په مسجدنبوی کې لمونځ ونه سو مابه دقبرمبارک له لوری اذان اوریدی اولمونځ به مې کوی (زرقانی شرح مواهب جلد ۵ اص/۳۳۲)

---

(۱) حافظ عسقلانی دفتح الباری په باب المعراج کې لیکلی دی (واستشکل رؤیة الانبیاء فی السموات مع ان اجسادهم مستقرة فی قبور الارض واجیب بان ارواحهم تشکلت بصور اجسادهم واحضرت اجسادهم لملاقاة النبی صلی الله علیه وسلم تلک اللیلة تشریفا وتکریما ویؤیده حدیث

سیف لودین کتابتون

داپیښه هم پردې دلیل دی چی دروح مبارک له همدغه بدن سره چی په دنیاکې وو تعلق پاته وو کوم چی په پاکه روضه کې ایښودل سوی دی سید سمهودی دوفاء الوفاء داتم باب په یوه فصل کې په جلد ۲ /ص /۴۰۷ کې لیکلی دی

(واما ادلة حیاة الانبیاء فتمقتضاها حیاة الابدان کحالة الدنیا مع الاستغناء عن الغذاء ومع قوة النفوذ فی العالم وقد اوضحنا المسئلة فی کتابنا المسمی بالوفاء لحضرة المصطفی صلی الله علیه وسلم)

ژباړه : دانبیاء علیهم السلام ژوند له خپلو بدنو مبارک سره دی لکه څرنګه چی په دنیاکې ژوندی وو یعنی ددوئ بدنونه ژوندی دی په بزرخ کې لکه څنګه چی په دنیاکې وو سره له دی چی دوئ وخوراک ته اړتیانه لری او الله ﷻ دوئ ته دنفوذ قوت وربښلی دی موږ ددې مسئلی تفصیل په الوفاء کې کړی دی ..

دصحابه کرام ﷺ او تابعینو له وخته بیاتراوسه پوری دټول أمت علماء او صحابه کرام ﷺ داعمل پاته سوی دی چی څوک دنبی کریم ﷺ زیارت ته ځی دهغه سړی په واسطه دنبی کریم ﷺ حضورته سلام لیږل کیږی او ډیرو دالله ﷻ دوستانو چی به کله ونبی کریم ﷺ ته سلام وو ایو دنبی کریم ﷺ له قبر مبارک څخه ده وعلیک السلام ځواب اوریدل سوی دی (فیض القدیر جلد ۲ /ص /۴۷۹)

داددې خبری ښکاره دلیل دی چی دروح مبارک له پاک بدن سره په قبرکې اړیکی سته ځکه همدلته سلام ویل کیږی او له همدې ځایه ځواب اوریدل سوی دی .

سوال : په قرآن کریم کې په ښکاره دنبی کریم ﷺ دمرګ ویل سوی دی الله تعالی فرمایې : ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ﴾ (۳۰آیت سورة الزمر) او دنبی کریم ﷺ ارشاد دی (انی رجل مقبوض) او دابوبکر صدیق ﷺ داخبره چی دنبی کریم ﷺ دوفات په ورځ یې وکړه چی (فان محمدا قدمات) داخبری ټولو صحابه کرام ﷺ منلی دی نو دنبی کریم ﷺ دژوند بیا څه معنی ده ؟

ځواب : نبی کریم ﷺ دالله ﷻ په دې حکم سره چی (كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ(۱۸۵آیت سورة آل عمران) دلږ وخت لپاره دمرګ خوند څکلی او بیرته یې الله تعالی راژوندی کړ او پر ځمکه یې دده مبارک بدن حرام کړی دی نو انبیاء علیهم السلام ټول ژوندی دی او ژوندیې بدنی دی نه یوازې روحانی او ددوئ ژوند تر شهیدانو او نورو غوره خلکو ډیر غوره دی (کذافی شرح المواهب ومدارج النبوة (۱) باب پنجم)

او دنبی کریم ﷺ دفضائلو په بیان کې امام بیهقی په کتاب الاعتقاد کې وایې :

(قال الامام البیهقی فی کتاب الاعتقاد الانبیاء علیهم الصلاة والسلام بعد ماقبضوا ردت الیهم ارواحهم فهم احیاء عند ربهم کالشهداء) ژباړه : امام بیهقی وایې چی دانبیاء علیهم السلام د روح له قبض کیدلو وروسته بیرته ژوندی کیږی نو انبیاء علیهم السلام دشهیدانو په څیر ژوندی دی بلکې تر هغوئ غوره دی ..

(۱) قانع جلد ۵ /ص /۳۳۲

سیف لودین کتابتون

دشهیدانو دژوند په اړه علامه الوسی په روح المعانی جلد ۲ /ص / ۱۷ کې وايي :
واختلف فی هذه الحیاة فذهب کثیر من السلف الی انها حقیقة بالروح والجسد ولکنا لاندرکها فی هذه النشأة استدلوا السیاق قوله تعالی عندربهم یرزقون وبان الحیاة الروحانیة التی لیست بالجسدلیست من خواصهم فلایکون لهم امتیاز بذلک علی من عداهم وذهب البعض الی انهاروحانیة (۱)

ژباړه : دشهیدانو دژوند په هکله دعلماء اختلاف دی جمهورسلف وايي چې دوئ ژوندی دی بدنی ژوندی دی دلیل یې دادی چې دالله تعالی ارشاددی چې شهیدانوته الله ﷻ روزی ورکوی نوله دی ښکاره سوه چې روزی خوبدن ته وررول کیږی اوبل داچې روحانی ژوندخوپه شهیدانوپوری خاص نه دی په روحانی ژوندخوټول ژوندی دی نوله ژوندڅخه هغه ژوندمراددی چې له بدن سره یوځای وی ځکه بیانو دخصوصیت دشهیدانودژوندڅخه معنی ده مقصودخوله دې آیت څخه ددوئ امتیاز اوخصوصیت بیانول دی چې تردوئ پوری خاص دی اونوروخلکوته نسته اوښکاره خبره ده چې دغه خصوصیت بدنی ژوند دی نه روحانی ژوندا ویوشمیرعلماء بیاوايي چې دشهیدانوژوندروحانی ژوندی دی ..

نوهرکله چې دشهیدانوژوندبدنی ژوندسو اوانبیاءعلیهم السلام خوترشهیدانوډیر غوره اوافضل دی اوپه لوړودرجوکې دی نوددوئ ژوندپه طریقه اولی سره بدنی ژوندی دی علامه سبکی وايي چې دد ې امکان نسته چې شهیدته دې ترنبی علیه السلام لوړه درجه ورکړل سی ځکه دشهیددرجه په دې وجه لوړه چې دنبی علیه السلام دشریعت ساتنه کوی اوپه دغه لاره کې یې خپل ځان قربان کړی دی دنبی علیه السلام پرلاريې ځان قربان کړی دی اوترقیامته پوری چې څوک جهادکوی اوشهیدکیږی ددې ټولوثوابونه دنبی کریم ﷺ داعمالوپه پاڼه کې لیکل کیږی اودنبی کریم ﷺ مقام ترټولوشهیدانولوړدی اودژوندپه اعتبارهم لوړدی ځکه چې ددین دبنیادایښودونکي نبی کریم ﷺ دی نوځکه دهغه یوائې ژونددټول امت دشهیدانوترژوندډیر قوی اولوړدی (شفاء الشفاء)

اوبل داچې نبی کریم ﷺ هم شهیددی لکه څنګه چې جلال الدین سیوطی رحمه الله وايي چې یوشاذاونادرنبی علیه السلام به وی چې هغه ته دې دنبوت له درجې سره سره دشهادت مرتبه نه وی ورکول سوی نوانبیاء علیهم السلام له دې حیث چې دوئ انبیاء علیهم السلام دی هم ژوندی دی اوله دې حیث چې دوئ شهیدان دی هم ژوندی دی ځکه الله تعالی فرمايي ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ﴾ (۱۶۹آیت سورة آل عمران) په عموم کې دوئ هم داخل دی اوزموږخاص نبی حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم خودشهادت په مرګ وفات سوځکه نبی کریم ﷺ دهغه زهروله اثرڅخه وفات سو چې یهودوپه خیبرکې ورباندی خوړلی وو (رواه البخاری)

---

(۱) سیدسمهودی په وفاء الوفاء کې صفحه ۴۰۵ کې لیکی (لاشک فی حیاة النبی صلی الله علیه وسلم بعدوفاته وکذاسائر الانبیاء علیهم الصلوة والسلام احیاء فی قبورهم حیاة اکمل من حیاة الشهداء التی اخبرالله تعالی بهافی کتابه

سیف لودین کتابتون

واخرج احمد وابو يعلى والطبراني والحاكم والبيهقي عن ابن مسعود ﷺ قال لان احلف تسعا ان رسول الله صلى الله عليه وسلم واحدة انه لم يقتل وذلك ان الله اتخذه نبيا اتخذه شهيدا)

ژباړه : امام احمد او ابويعلى او طبراني او حاکم او بيهقي روايت کوي چې عبدالله ابن مسعود ﷺ ويل چې زه نه ځله دا قسم خورم چې رسول الله ﷺ شهيد سوى دى دا غوره تر دې چې يو ځل قسم وخورم چې نبي کريم ﷺ شهيد نه دى ځکه الله تعالى نبي کريم ﷺ هم نبي کړى وو او هم يې شهيد کې ..

بلکې نبي کريم ﷺ سيد الشهداء دى د ټولو شهيدانو اعمال د نبي کريم ﷺ په پاڼه کې ليکل کيږي او د نبي کريم ﷺ د ترازو په تله کې وي او دده مبارک ژوند د ټولو شهيدانو تر ژوند ډير قوي او کامل دى علامه حقاني وايي (الانبياء والشهداء احياء وحياة الانبياء اقوى اذالم يسلط عليهم الارض فهم كالنائم لايسمع ولاينطق حتى يتنبه . حاشيه حياة الانبياء للبيهقي) ژباړه : انبياء عليهم السلام او شهيدان دواړه ډلې په خپلو قبرو کې ژوندي دي مګر د انبياء عليهم السلام ژوند د شهيدانو تر ژوند ډير قوي دى هرکله چې انبياء عليهم السلام بدنونه نه خاورې کيږي او د دوئ پاک بدنونه خوندي وي نو پوه سه چې انبياء عليهم السلام داسې دي لکه ويده سوى خلک او د خوب د سړي حالت داسې دى چې په خوب کې نه څه ويلاى سي او نه چاته ځواب ور کولاى سي تر څو چې را ويښ نه سي ..

د نبي کريم ﷺ د ژوند په اړه د مولانا محمد قاسم نانوتوى قدس الله سره غوره وينا

اهل السنت والجماعت ټول سلف او خلف پر دې يوه خوله دي چې انبياء عليهم السلام په خپلو قبرو کې ژوندي دي او د دوئ پاک بدنونه د ځمکې له تغير څخه خوندي دي او دوئ په عبادت بوخت دي

عرب ، او عجم ، متکلمين او محدثين مفسرين اولياء الله او عارفينو پر دې موضوع بيلا بيلې رسالې ليکلې دي د ديار لسمې قمري پيړۍ په پاى کې د متکليمنو د سرتاج حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوى رحمة الله عليه پر دغه موضوع باندې د (آب حياة) په نامه يو ځانګړى کتاب ليکلى دى چې د حقائق او معارف يوه عجيبه او غريبه خزانه ده د الله تبارک وتعالى د دې ارشاد (كل نفس ذائقة الموت .. انک ميت وانهم ميتون) په هکله ټول سلف او خلف پر دې متفق دي چې پرته له حضرت عيسى عليه السلام نورو ټولو انبياء عليهم السلام ته مرګ راغلى دى او د دوئ تجهيز او تکفين سوى دى او دوئ په ځمکه کې ښخ سوي دي وروسته بيا متکلمين او محدثين وايي چې انبياء عليهم السلام له مرګه وروسته دويم ځل ژوندي کړل سو او تر قيامته به ژوندي وي په انبياء عليهم السلام باندې که څه هم د لږ وخت لپاره مرګ راغى مګر هغه دائمي مرګ نه دى بلکې تلونکى دى او تل پاتې نه دى

او مولانا نانوتوى وايي چې د انبياء عليهم السلام وفات او مړينه که څه هم له کتاب الله او سنت رسول ﷺ او اجماع د امت او د خلکو په سترګو ليدل سوى او ثابت دى او پر دې عقيده

سیف لودین کتابتون

ساتل لازمي اوضروري دی اوددې نه منل ناروادی مګر دانبياء عليهم السلام دمرګ او وفات کيفيت او حقيقت او څرنګ والی دعامو مومنانوله مړينې دکيفيت او نوعيت څخه بيل او جلادی دعامو مومنانو مړينه دژوند تلونکی وی او دانبياء عليهم السلام مړينه په ښکاره مړينه وی خوپه حقيقت کې ژوندی وی دانبياء عليهم السلام مرګ ښکاره وی خو پټ پکې ژوند روښانه کيږی لکه دوريځی په پرده چې دلمرسترګه پټه سی خوپه حقيقت کې سترګه روښانه وی ترپرده لاندی خولمرروښانه وی معاذالله دمولانانوتوی دامقصدنه دی چې انبياء عليهم السلام باندی هيڅلکه مرګ نه راځی بلکې مولاناصاحب مړينه اووفات لازمي بولی دمولاناصاحب خبری ټولی دمړينې دکيفيت اونوعيت اوڅرنګ والی په معلومولوکې دی دانبياء عليهم السلام دنه وفات يوه زره هم دئ نه وايې لکه دمتکليمنوچې دالله ﷻ په صفاتوکې اختلاف دی دااختلاف په خپله په صفاتوکې نه دی بلکې په نوعيت اوڅرنګ والی کی دی يوشميروايې چې صفات دباری تعالی عين دی له ذات سره اوبله ډله بياوايې چې نه عين دی نه غير ، دمتکليمنواختلاف په نفس صفاتوکی نه دی بلکې په دی نوعيت اوڅرنګ والی کې دی نودلته هم دمولاناصاحب خبره په مرګ اووفات کی نه دی ځکه پردې عقيده ساتل لازمي اوضروري دی لکه چې مولاناصاحب وايې چې زه انبياء عليهم السلام ددوئ ددنياوی بدن سره داړيکوپه اعتبارژوندی ګڼم سره له دی هدايت چې الله پاک وايې (کل نفس ذائقة الموت .. وانک ميت وانهم ميتون) وټولوانبياء عليهم السلام ته دمرګ نسبت اوپردې عقيده ساتل لازمي اوضروری ده مګر دانبياء عليهم السلام ژوند دمرګ ترپردی لاندی په ښکاره خوله سترګوپټ دی خوپه حقيقت کې ژوند دی داسی نه دی لکه نورخلک ځکه دنوروخلکولپاره مرګ دژوندزائلونکي وی اودانبياء عليهم السلام مرګ ددوئ دژوندپټيدونکی وی رافع اومزيل نه وی

بلکې له مړينی وروسته دانبياءعليهم السلام ژوندنورهم پوره سی دانبياء عليهم السلام اودعاموخلکودمړينی داسی فرق دی لکه يوشمع ياڅراغ چې راواخلی اوپه ټيم يابل داسي شئ کې کيږدی اوسرورباندی کيږدی پټ يې کی څراغ ياشمع خومړه نه سوه مګر دخلکوله سترګوپټ سو رڼايې نه وينی اوپه ټيم يابل شئ کې ښه روښانه دی بلکې هغه ټيم ښه روښانه کی ځکه دشمع ټولی شعاوی په لږځای کې وی په دی سبب رڼانوره هم زياتيږی اودعامومومنانومرګ ددوئ دژوندزائلونکی اوتلونکي وی لکه چې شمع ياڅراغ مړکی نوهغه رڼابالکل له منځه ځی هم دخلکوله سترګوپناه کيږی اوهم څه نه پاتيږی اودانبياء عليهم السلام په مړينه خوددوئ ژوندنه ځی بلکې پټ سی نوددوئ دواړوپه مينځ کې داسی توپيرشته لکه چې يوڅوک شمع په يوځای کې خوندی کيږدی

سیف لودین کتابتون

او هغه لګیږی او بل څوک بیا شمع مړه کی نو په اعتبار د ځای سره خود واړه تیاره جوړوی او دواړو تیاره جوړوی مګر په حقیقت دا یوه رڼا د خلکو له ستر ګو پناه سوه او بله شمع له رڼا سره پناه سوه

او بل دلیل دا دی چی دانبیاء علیهم السلام بدنونه مبارک د مځکې په څیر روغ او سالم وی او د ځمکی له تغیر او تبدیل څخه خوندی وی دا هم ددی دلیل دی چی دوئ ژوندی دی

او بل دا چی ددوئ له ازواج مطهرات سره نکاح کول دتل لپاره حرام دی او ددوئ په مالوکې میراث نسته دا ټول امور پردی شاهد عدل دی او ددې ښکاره دلیل دی چی دپاکو ارواحو تعلق له بدنو سره نه دی قطع سوی بلکې ترمرګ وروسته هم دانبیاء علیهم السلام تعلق له خپلو بدنو سره هغه رقم پاته دی لکه څنګه چی مخکې وو داسی نه دی لکه د شهیدانو تعلق له بدن سره ځکه ددوئ په مړینه سره د ارواحو تعلق له دنیاوی بدنو سره ختمیږی او دابدنونه ددوئ رژیږی بلکې دجنت له ابدانو سره ددوئ اړیکی پیدا کیږی ځکه د شهیدانو په مالوکې میراث وی او دانبیاء علیهم السلام په مالوکې میراث نه وی او سره له دی چی داآیت ﴿يُوصِيكُمُ اللهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ فَإِن﴾ (۱۱آیت سورة النساء) دټولو لپاره عام دی او بل دا چی د شهیدانو له شهادت وروسته ددوئ میرمینی له عدی تیرولو وروسته نکاح کولای سی او درسول اللهﷺ دازواجو په څیر نه دی ځکه دهغوئ په اړه داسی حکم سوی دی ﴿وَلَا أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْدِهِ أَبَدًا إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ اللهِ عَظِيمًا﴾ (۵۳ آیت سورة الاحزاب) ددوئ دنکاح حرمت ابدی دی دتل لپاره دی .. له دی معلومه سوه چی له دوئ سره دنبیؑ نکاح نه پری کیږی او پرنه پریکړه یې بل دلیل هم دا آیت دی ﴿النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾ (٦آیت سورة الاحزاب) دزوجیت اړیکی لکه څنګه چی مخکې وی هغه رنګه پاته دی ځکه ازواج جمع دزوجه ده زوجه صفت مشبه دی دلالت پردوام او ثبوت کوی او دپلار له منکوحی سره دنکاح حرمت یې داسی بیان کړی دی (ولاتنکحوامانکح آبائکم) دفعل ماضی په صیغه سره ماضی پرتجدد او حدوث دلالت کوی چی له دې څخه دنکاح تلل ښکاره معلومیږی نو هرکله چی له ازواج مطهرات سره نکاح پاته سوه او دنکاح پاته والی دبدن او روح له اړیکو پرته نه کیږی ځکه شهیدان سره له دی چی دوئ ژوندی دی خو ترمرګ وروسته دروح اړیکی ددوئ له خاورین بدن سره نه پاته کیږی ځکه ددوئ له مرګ وروسته ددوئ له میرمنو سره نکاح رواده او د شهیدانو او عامو مومنانو په مرګ کې داسی فرق دی چی د شهیدانو روحونه دبدن له بیلیدو وروسته نویو بدنو ته نقل کیږی ځکه نو موړی بدنی او روحانی دواړه ژوندی بلل کیږی او دنورو مومنانو تعلق نه له مځکې خاورینو ابدانو سره پاته کیږی او نه له نوی ابدانو سره تعلق نیسی هرکله چی د شهیدانو تعلق له خاورین بدن سره قطع کیږی نو هغه

سیف لودین کتابتون

شیان چې ترخاورین بدن پورې اړه لري لکه مال یا نکاح او میراث نو ددوئ په مالوکې هم میراث شته او هم ددوئ میرمنې ددوئ له شهادت وروسته او له عدې تیرولو وروسته نکاح کولای سی ځکه مال او ښځه خو ددنیاله خاورین بدن سره تړلي وو هر کله چې هغه ولاړې نه یواځې له روح سره نو ځکه ددوئ علاقه ختمیږي او ددوئ دارواحو اړیکې له نویو ابدانو سره پیلیږي هغه په جنت کې ګرزي او خپل سیل او تفریح کوي

مړینه دشهیدانو په حق کې دژوند دزوال سبب دی او هغه ژوند چې دالله ﷻ په کلام او احادیث کې راغلي دی دشهیدانو لپاره هغه دویم ځلي ژوند دی چې دشهیدانو لپاره هم شته او انبیاء علیهم السلام لپاره هم شته خو فرق یې دادی چې دانبیاء علیهم السلام دژوند علاقه نه ختمیږي ځکه ددوئ میرمنې دابد لپاره پرامت حرامي وي او ددوئ په مالوکې میراث نسته ځکه ددوئ ملکیت پاته دی او دشهیدانو علاقه نه پاته کیږي بلکې ختمیږي ددوئ دروحو تعلق له نویو ابدانو سره پیلیږي خلاصه دخبرو داسوه چې دعوامو دمرګ او انبیاء علیهم السلام دمرګ په مینځ کې دځمکې او اسمان په څیر فرق سته دانبیاء علیهم السلام ترپرده لاندې ژوند مرګ بلل کیږي او دعامو خلکو دژوند اړیکې ختمیږي ددوئ له پاره مرګ دژوند دپای ټکی دی

او شاهد دادی چې پرته له دوئ څخه نوروته (وانهم میتون) بیل خطاب وسو او بل داسې حکم وسو (انکم یوم القیامة عند ربکم تختصمون) ټولو ته شامل دی او (انکم میتون) یې ونه فرمایل چې دامرګ ونبي کریم ﷺ ته هم شامل سي همدا اشاره وبیلوالي ته دمرګ ده نو لکه څنګه دنبوي ژوند او دمومنانو دژوند په مینځ کې فرق دی او لکه څنګه چې دنبوي مرګ نوم خوب دی لکه چې په حدیث شریف کې راغلی دی :

(تنام عيناى ولاينام قلبى وكذلك الانبياء تنام اعينهم ولاتنام قلوبهم (بخاری شریف)

دغه رنګ دنبي کریم ﷺ دمرګ او دعامو مومنانو په مرګ کې هم فرق سته په حدیث کې راغلی دی چې (النوم اخو الموت) او په قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي ﴿اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْأُخْرَى إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ (۴۲) آیت سورة الزمر)

الله تعالی په خپل کلام کې خوب او مرګ دواړه په یوه رسۍ سره تړلي دي او دداوړو حقیقت یې په وفات او امساک بیان کړي عام مؤمنان دخوب په حالت کې د توفي او امساک روح په وجه په شعور کې معطل کیږي او دغه تعطیل یا انبیاء علیهم السلام ته نه راځي ځکه انبیاء علیهم السلام په خوب او ویښه کې څه فرق نه وي دانبیاء علیهم السلام سترګې ویدې وي خو زړه یې ویښ وي او ددوئ دخوب په حالت کې بیداره وي دوحی لپاره لکه څنګه چې دابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام پیښه وه ﴿قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَىٰ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ﴾ (۱۰۲ آیت سورة الصافات)

سیف لودین کتابتون

پردې باندې شاهدعدل دی دعامومنانوقوت علمیه اوآلیه دخوب په حالت کې معطل کیږی مګر دانبیاء علیهم السلام قوت علمیه لکه مخکې چې څنګه وو هغه رنګه پاته کیږی (۱) تردې ځایه دمولانانوتوی دخبرولنډیزوو،، آب حیات رساله وګوری)

اوس مؤلف حقیر دمسلمانوپه خذمت کې داوړاندی کوی چې دقرآن کریم له آیاتواودنبی کریم ﷺ له احادیثو داخبره دلمرپه شیررو ښانه سوه چې انبیاء علیهم السلام په روحانی اوبدنی ژوندکې دعاموانسانانوڅخه بیل اوجلادی اودالله ﷻ په نژدی والی کې دجبرئیل علیه السلام اومکائیل علیه السلام اودنورو ملائکه وو علیهم السلام څخه غوره اولوړدی الله پاک آدم علیه السلام په خپل خاص قدرت اولاس پیداکي اودخلافت تاج یې دهغه پرسرکیښنودی اودغه خاورین بدن یې دنورانی اجساموڅخه پاره چې ملائکه وی دی مسجودوګرزوی اوانبیاء علیهم السلام ته یې دبدن په لحاظ په عاموانسانانوباندی امتیازورکی اوددوئ بدنونه مبارک یې داسې پاک ، سپیڅلی ، خوشبویه نرم پیداکړل چې ددوئ بدنونه ترکوفی عطرو هم ډیر خوشبویه وود مشک اوعنبرودوئ له بدنوسره هیڅ نسبت نه کیږی لکه چې امام بیهقی یوروایت کوی (اخرجه البیهقی وغیره عن عائشة ﷺ قالت قلت یارسول الله ﷺ انک تدخل الخلاء فاذاخرجت دخلت فی اثرک فمااری شیئاً الاانی اجدرائحة المسک قال انامعشرالانبیاء تنبت اجسادناعلی ارواح اهل الجنة فماخرج منهامن شئ ابتعلته الارض (خصائص کبری جلد۱/ص/۷۰)

ژباړه : امام بیهقی اونوروله عائشه صدیقه ﷺ څخه روایت کړی دی وایې چې عائشه صدیقه ﷺ وایې چې ماعرض وکی چې یارسول الله ﷺ کله چې ته بیت الخلاء ته ځي زه له تاوروسته ځم اوهلته زه هیڅ نه وینم مګر داچې دمشکوبوئ پرماځي نبی کریم ﷺ وفرمایل موږټولوانبیاء علیهم السلام ته ځانګړی شان وی زموږدبدنوپیداکیدل اونشواونمادجنتیانودارواحوپه شیراوطریقه باندی کیږی هرڅه چې دانبیاء علیهم السلام له بدن څخه وی ځمکه سمدستی هغه تیروی ..

یعنی دانبیاء علیهم السلام بدنونه دجنتیانوپه شیر پاک سپیڅلی نرم وی لکه څنګه چې دجنتیانوله بدن څخه څه شئ وزی نوهغه ترمشک اوعنبرخوشبویه اوپاک وی دغه شان دانبیاء علیهم السلام له بدنوڅخه چې څه وزی هغه هم ترمشک اوعنبرخوشبویه وی یعنی دانبیاء علیهم السلام دبدنو فطرت ، حقیقت ، مزاجی کیفیت اوجوړیدنه دجنتیانوپه ډول اوشان وی له دی وجی دانبیاء علیهم السلام بدنونه مبارک له مرګ وروسته دجنتیانودبدنوپه شیرنه خاوری کیږی اوله دې وجی یوشمیرعلماء دنبی کریم ﷺ دقضاء حاجت دپاکی قائل دی شرح شفاء

---

(۱) تفسیر کبیر جلد ۲ /ص/ ۴۵۵)

سیف لودین کتابتون

په حدیث شریف کې راغلي دي چې یوه ورځ نبي کریم ﷺ ښکرولګوي نوعبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته یې حکم وکړ چې داويني په يوځاى کې چپه کړه په داسي ځاى کې چې څوک يې ونه ويني عبدالله بن زبير رضی الله عنه هغه ويني وڅيښلې کله چې راغلي نونبي کريم ﷺ پوښتنه ځنې وکړه چې اې عبدالله رضی الله عنه څه دې کړي نوموړي وويل چې يارسول الله ﷺ هغه مې داسي پټې کړې چې هغه ځاى هيڅوک نه سي ليدلاى نبي کريم ﷺ وفرمايل کيداى سي چې تاڅيښلې وي افسوس (اخرجه الحاكم والبزار والطبراني وبيهقي)

له دې داسي معلوميږي چې دانبياء عليهم السلام بدنونه دخپل پلار ادم عليه السلام يوه نمونه ده هغه په جنت کې دالله تبارک وتعالى دلاس په قدرت سره پيدا سوله دې کبله ترمرګ وروسته روغ پاته کيږي اودځمکي له اړولوڅخه خوندي وي لکه څنګه چې دجنتيانوبدنونه له تغيراوتبديل څخه خوندي وي آدم عليه السلام اصلي اوخوړ اولاد انبياء عليهم السلام دى اوپه حديث کې راغلي دي (الولدسرلابيه) نوهيڅ دتعجب خبره نه دى چې د (ماخلقت بيدى) انوار اوبرکات بلاواسطه اودقدرت دلاس تخليق اوتکوين آثارانبياء عليهم السلام ته دخپل پلارمحترم آدم عليه السلام څخه په ميراث پاته وي اوهغه څه چې دغوره والي اوپاک والي يوه نمونه وو دهغه ميراث يوائې په غوره خلکوپوري ځانګړى سو اودبدنوخوندي پاته کيدل دانبياء عليهم السلام له مرګ وروسته دغه غوره اوپاک والي دآدم عليه السلام له لوازموڅخه دى کوم چې دهغه ميراث ځانګړى بندګانولپاره ځانګړى سوى وى اودنبي کريم ﷺ دبدني صفاتواوخويوتفصيل كه غواړى نوشرح شفاء قاضي عياض اوخصائص كبرى وګورى ..

کوم څوک چې دانبياء عليهم السلام بدني اوروحاني خصوصيتونه په خپل مخکې کيږدي نوهغه سړى ته به يوه ذره شک هم په دې کې پاته نه سي چې انبياء عليهم السلام که څه هم په ښکاره له عاموانسانانوسره په ژوندکې يوشان دي مګر په حقيقت کې اودژوند په پردوکې انبياء عليهم السلام ژوندي دي دانبياء عليهم السلام دمرګ ح نوعيت اوکيفيت له عاموخلکوڅخه بيل دي اودټولي دنياد ويښتيا حالت اوددوئ دويښتيا حالت دومره نسبت نسته لکه ديوى څاڅکي له يوه لوى سيندسره

دانبياء عليهم السلام دژوند او ويښتيا په اړه څه بيان درته کوو : دمثال په ډول داقول راوړو

نوم النبي ﷺ عندالامام الاعظم .... لاينقض الوضوء حتماً فاعلم

اوپه حديث کې راځي چې (ماتثاؤب نبي قط وما احتلم قط) يعني نبي عليه السلام ته هيڅ کله اړمې اسويلې نه دي راغلي اونه په خوب کې احتلام ورته پيښ سوى دى ځکه چې دغه دواړه له شيطان د بازيوپه سبب وى اوانبياء عليهم السلام له دې پاک اومنزه دي (زرقاني شرح مواهب جلد ۵ /ص /۲۴۸) اودانبياء عليهم السلام خوب وحي وى لکه څنګه چې دابراهيم عليه السلام قصه ده ((قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَى (۱۰۲آيت سورة الصافات)) ددې ښکاره دليل دى

سیف لودین کتابتون

وكان النبي صلى الله عليه وسلم اذانام لم نوقظه حتى يكون هو يستيقظ لانا لاندري مايحدث له في نومه
(بخاری شریف باب الصعید الطیب وضؤ المسلم من کتاب التیم جلد ۱/ص/۴۹ و قسطلانی جلد ۱/ص/۳۶)
ژباړه: صحابه کرام ﷺ وایي چې نبی کریم ﷺ چې به کله ویده وو نوموږ به هغه ﷺ نه راویښوی ځکه موږ په دې نه وو خبرچې ده مبارک ته د الله ﷻ له لوری څه را روان دی او په دغه حالت کې څه وحی نازلیږی چې موږ هغه مبارک ﷺ راویښ کړو اوِ دوحی دانقطاع سبب سو

لکه څنګه چې دانبیاء علیهم السلام ژونداو ددوئ خوب اوویښتیاحالت دعامو مؤمنانوله ژوند، خوب اوویښتیا څخه بیل اوجلادی دغه رنګه یوبل شئ چې هغه مرګ دی هغه هم دانبیاء علیهم السلام داله نورومومنانو څخه بیل دی اوممتاز دی

الله تبارک وتعالی په دې آیت (﴿اللهُ يَتَوَفَّى الْاَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْاُخْرَى إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ (۴۲) آیت سورة الزمر) کې دعاموخلکووفات پردوه قسمه ویشلي دی دیوه نوم مرګ دی اوبل نوم دمرګ خوب دی اوښکاره خبره ده چې دانبیاء علیهم السلام دخوب مرینه له عاموخلکودخوب له مړینې څخه بیل اوجلادی ځکه دخوب په وخت کې دعاموخلکوحس اوپوهه له کاره لویږی مګر دانبیاء علیهم السلام قوی ادراکیه دخوب په وخت کې هم په کاربوخت وی دنوموړی حضراتوسترګی ویدی مګر زړونه یې ویښ اوبیداره وی یعنی دانبیاء (ع) غفلت دخوب په حالت کې یواځي ښکاره وی اوپه پټه کې دوئ ویښ اوبیداره وی

اوبل داچې دانبیاء علیهم السلام دخوب په نامه مرګ دعاموخلکودخوب دحالت له مړینې څخه بیل دی ځکه ددوئ خوب اومرګ په ښکاره وی خوددوئ دواړه په پردوکې ژوندپټ وی

دانبیاء علیهم السلام په اړه داعقیده لازمی دی چې دوئ دبشریت په تقاضاویده کیږی مګر داعقیده لازمی نه دی چې ددوئ خوب زموږ دخوب په څیردی بلکې دوئ دخوب په حالت کې هم ویښ وی

دغه رنګه دانبیاء علیهم السلام په هکله داعقیده لازمی دی چې د الله ﷻ د دې آیت چې (كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ (۱۸۵ آیت سورة آل عمران) انبیاء علیهم السلام ته هم مرګ راځی مګر داعقیده ساتل هم لازمی نه دی چې ددوئ مرګ زموږ دمرګ په شان دی لکه څنګه چې موږ دمرګ خوند څکو دغه رنګه دوئ هم دمرګ خوند څکی بلکې داسی عقیده ساتل بیخی دادب خلاف دی چې له شکه خلاص بی ادبی بلکې هرسړی دخپلی خپلی مرتبی په کچه برابردمرګ خوند څکي

اودنیکانو دمرګ حالت داسی وی لکه رومی صاحب چې وایي

ظاهرش مرګ وبباطن زندګی .... ظاهرش بهترنهان پائندګی

سیف لودین کتابتون

دبزرګانو دداسی خبرو له راوړلو څخه هدف یوائی دادی چی دنانوتوی صاحب داخبره چی انبیاء علیهم السلام له وفات وروسته ژوندی دی ددوئ لپاره مرګ مزیل حیات نه دی داسی تعبیرنه دی چی نوموړی بیخی له مرګ منکر دی بلکې وایې چی ددوئ لپاره مرګ مزیل حیات نه دی بلکې دانبیاء علیهم السلام اودعامو خلکو دمرګ توپیرسته.

مولانانانوتوی صاحب په آب حیات رساله اوپه خپلو نوشتوکې په ښکاره ویلی دی چی د انبیاء علیهم السلام په هکله داعقیده ساتل ضروری اولازمی دهی چی دوئ ته مرګ راځی مګر خبره یوائی په نوعیت اوتعین کې اوپه ښکاره یې دعامو خلکوپه څیر مرګ وی له دی دانه لازمیږی چی دوئ سره دی چی په درجوکې لوړ اوپاک اولوړی مرتبې لری اوپه ټولوشیانوکې بیل دی اوپه مرګ کې دې له عاموانسانانوسره یوشان سی بیلوالی په اعتباردمرتبوسره دی (اګر فرق مراتب نکنی زندیقی

نولکه څنګه چی انبیاء علیهم السلام په خوب کې ویښ اوبیداره کیدای سی دغه رنګه له مرګ وروسته ددوئ ژوند دخلکوله سترګو پټیدل څه لیری خبره نه دی بزرګان وایې چی ممکنات موجوددی مګر دهغووجود عارض وی ددوئ نیستی پټه وی خواجه باقی بالله رحمه الله فرمایې (بنشاس که کائنات او درعدم . بل درعدم ایستار ثابت قدم اند

دممکناتووجود څه حقیقی وجودنه وی بلکې یوائی یوه نمونه دنیستی وی

کل مافی الکون وهم وخیال .... اوعکوس فی المرایا اوظلال

یوائی په نامه دازموږوجوداوهستی داصل آینه دی کومه چی له هغې څخه رنګارنګ بدلون په سترګو معلومیږی باب العلل کله چی انسان ناروغه سی نودغه وخت هغه ته په خپل ژوندکې مرګ په سترګوویني اودغه ناروغی داسی دی لکه په آینه کې چی ناروغ ګوری اوخپل مرګ ورته ښکاری په کوم ځای کې چی یومجبوره اولاچاره سی نودغه وخت خپل واک پریږدی په پرده کې خپل ځان ته ګوری اوکله چی کومه پټه اوباریکه مسئله مخ ته راځی اوعقل دهغې دځواب ورکړی اوکینی نودغه وخت خپل علم حصولی حادث ته په پرده کې خپله ځانی ناپوهی په نظرورځي

نوکه دغه رنګه یوعالم ربانی اوبزرګ دڅورلسمی پیړۍ مولوی معنوی یعنی نانوتوی صاحب ته په خپل نوی لیدنه کې دانبیاء علیهم السلام مړینه په پرده کې ددوئ اصلی ژوندپیل بولی نوپه دې کې څه لیری والی سته

اذالم تسلم ترا الهدا نسلم .... لا ناس رأوه بالابصار

مړینه اوژوندیشکه یودبل ضددی مګر دیوه راتګ تربل لاندی پټ کیدل دانبیاء علیهم السلام په هکله منل سوی دی عارف رومی لاندی وایې

درعدم هستی براور چون بود .... ضداند رضدکی مکتون شود

سیف لودین کتابتون

او مولانا رومي په (يخرج الحي من الميت) باندي په مثنوي کښې په وضاحت بحث کړی دی خبره اوږده سوه ددې حقير خو دا حال دی چې کله د سلف صالحينو او علماء ربانيينو د پاک ژوندا او ددوئ د پاک ژوند فکرو کوی نو دا ورته معلومه سی چې زموږ ژوند په منزله د مرګ دی او زموږ ويښتيا په منزله د خوب دی يعنی زموږ ناقص او خړ ژوند زموږ د مرګ پټونکی دی او زموږ دغه په نامه ويښتيا زموږ د ناخبری خوب پټ کړی دی زموږ حال خو دا سی دی:

(خبر افي البواب انک نائم .... فقلت اذا استيقظت ارضا فنائم

مولانا روم دا شعر په فارسي ژبه ويلی دی:

ازمودم مرګ من در زندګی است .... چون رهم زين زندګی پابندګی است

اقتلوني اقتلوني ياثقات .... ان في قتلي حياتا في حيات

يامنير الخد ياروح البقاء .... اجتذب روحي وجدلي بالتلفات

امام قرطبي دانبياء عليهم السلام د ژوند په اړه له دلائلو وروسته ليکلي دی

يحصل من جملته القطع بان موت الانبياء انما هو راجع الى ان غيبوا عنا بحيث لا ندركهم وان کانوا موجودين احياء ولا يراهم احد من نوعنا الا من خصه الله تعالى بکرامة من اوليائه انتهى کذا في شرح المواهب للزرقاني جلد۵/ص/ ۳۳۴ وکذا في ابناء الاذکياء بحياة الانبياء لليسوطي جلد۲/ص/ ۱۴۹ از مجموعة رسائل سيوطي)

ژباړه: ددې ټولو دلائلو څخه دا خبره يقيني او قطعي معلوميږي چې دانبياء عليهم السلام مړينه يوائې په ښکاره ده دوئ زموږ له سترګو پناه سوی دی موږ ددوئ د ژوند درک او ليد نه نه سو کولای که څه هم دوئ ژوندی دی او شته او زموږ په څير څوک يې نه سی ليدلای مګر هغه څوک چې الله ﷻ د ولايت مرتبه ورکړې وی او د عادت خلاف کارونه ورته ښکاريږی

او علامه شبلي او علامه سيوطي او علامه زرقاني او حافظ ابن قيم په نزد هم دا خبره ثابته ده چې دانبياء عليهم السلام مړينه جلا ده د مړينې حقيقت فقط دو مره دی چې زموږ له سترګو پناه سوی دی خوله له شکه خلاص دوئ ژوندی دی که څه هم موږ يې په سترګو نه وينو او ددوئ ژوند موږ ته نه ښکاره کيږی لکه څنګه چې ويده سړی ژوندی وی مګر موږ ته دهغه د ژوند پوهی او خبر هيڅ معلومات نه وی د ټولو محدثينو دغه لاره ده امام بيهقي (۱) په حيات الانبياء په پای کښې ليکی دانبياء عليهم السلام مرګ له ټولو وجهو څخه مرګ نه دی بلکې ددوئ د مرګ حقيقت يوائې پيهوښي او نه احساس دی لکه چې علامه مناوی (۲) په فيض القدير کښې ليکلی دی چې د مرګ اطلاق کله په له کاره لويدو د حواسو باندی کيږی لکه څنګه د راويښيدو په وخت کښې (الحمد لله الذی احيانا بعد ما اماتنا) ويل راغلی دی چې په دغه حديث کښې له (احياء) څخه ويښيدل مراد دی او له (اماتنا) څخه خوب مراد دی د مړينې اطلاق په خوب وسو لکه چې شيخ ابن علان مکي په شرح کتاب الاذکار کښې ليکلی دی (۳)

او علامه زبيدي په شرح قاموس به يادموت، کښې په مرګ باندی د خوب اطلاق او د حواسو د کار پريښودو اطلاق او نور پوره بحث کړی دی علماء دی هغه وګوری

(۱) دامام بيهقي اصل عبارت دا سی دی (فهم احياء عند ربهم کالشهداء فاذا نفخ في النفخة الاول صعقوا تهم لا يکون ذلک موتا في جميع معانيه الا في ذهاب الاستشعار آه) ———— (۲) په فيض القدير جلد۵/ص/ ۹۱ ———— (۳) شرح کتاب الاذکار جلد۱/ص/ ۲۸۷)

سیف لودین کتابتون

امهات المؤمنین رضی الله تعالی عنهن (یعنی دټولو مسلمانانو مورانی)

قال الله عزوجل : ﴿النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾ (۶ آیت سورة الاحزاب)

الله تعالی فرمايي نبی علیه السلام دمومنانو په حق کې د دوئ ترځانو هم نژدی دی او دپیغمبر علیه السلام بیبیانی دمومنانو میندی دی ..

دمومن ایمانی وجود او دهغه روحانی ژوند دپیغمبر علیه السلام دا ریکو او نژدی والی په سبب دی ځکه پیغمبر علیه السلام دمومنانو په حق کې دپلار په مرتبه کې دی او دده مبارک بیبیانی دمومنانو په حق کې دمورانو او میندو په مرتبه کی دی .. لکه چی الله تعالی فرمايي :

﴿يَا نِسَاء النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلاً مَّعْرُوفاً﴾ (۳۲) ﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً﴾ (۳۳) ﴿وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفاً خَبِيراً﴾ (۳۴) سورة احزاب آیت)

ژباړه : اې دپیغمبر علیه السلام بی بیانو تاسو دنورو ښځو په شیر نه یاست که تاسو په پرهیزګاری باندی تل پاته سی نو ستاسو دپرهیزګاری غوښتنه داده چی تاسو دخبرو په وخت کې له نرمی کارمه اخلی هسی نه چی کوم دزړه ناروغ ستاسو په نرمۍ سره په طمع او خرابو چورتو کې ولویږی او خبری کوئ په سمه طریقه سره چی په دوئ کې نه نرمي وی او نه سختی وی او په خپلو کورو کې اوسیږی دجاهلیت دوخت په شیر خپلښائست مه ښکاره کوی او لمنځونه کوی زکوة ورکوی او دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ پیروی کوي اې دپیغمبر علیه السلام کورنۍ الله تعالی یواځي داغواړی چی له تاسو ناپاکۍ لیری کړی او تاسو ښه پاک کې او کوم آیتونه او دحکمت خبری چی ستاسو په کورو کې تلاوت کیږی هغه ښې یادی کړی بیشکه الله ﷻ دباریکو شیانو لیدونکي او په هرڅه خبردی ..

رازونه ، حکمتونه اوفایدی !

(**لومړی**) امهات المؤمنین داعظیم الشان لقب دهغه بیبیانو دی چی دنبی کریم ﷺ په نکاح کې پاته سوی دی او له کوموښځو سره چی نبی کریم ﷺ نکاح کړی وه مګر تر واده او نژدیکت مخکې یې هغوئ ته طلاق ورکړی وی دهغوئ لپاره دالقب نه سی کاریدای .

(**دویم**) دنبی کریم ﷺ ازواج مطهرات دمومنانو مورانی دی ځکه درسول الله ﷺ له وفات وروسته هیڅوک له دوئ سره نکاح نه سی کولای له دوئ سره نکاح ناروا او منع سوی لکه چی الله تعالی فرمايي

﴿وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْدِهِ أَبَداً إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيماً﴾ (۵۳) سورة الاحزاب) ژباړه : تاسو ته هیڅ وخت نه دی رواچی رسول الله ﷺ ته یو قسم ضرر او تکلیف ورسوي او نه دارو ادی چی ترده وروسته دده مبارک ﷺ له بیبیانو سره نکاح وکوی رښتیا هم دالله ﷻ په نزد داخبر ډیره لویه ګناه ده که تاسو داسی شئ په ښکاره یا په زړه کې پټ وساتی نو یو وسی چی الله تعالی رښتیا هم په هرشئ باندی خبردی ..

سیف لودین کتابتون

اول : دیوه غیرتمند سړی لپاره داتصورهم دضرر اوتکلیف سبب کیږی چی هغه دافکر وکوي چی زما ښځه به زماترمرګ وروسته دبل چاپه نکاح کې کیږی اوښکاره خبره ده چی په کائناتو کې تر رسول الله ﷺ ډیر غیرتمند څوک نشته

دویم: داچی دویٔ ته امهات المؤمنین رضی الله تعالی عنهن وویل سو نودویٔ دټولو مسلمانانو موراني نوځکه دهیچا نکاح له دویٔ سره نه دی جائز

دریم : داچی دخپل پلار له نکاح سوی ښځی سره نکاح کول عقلاً اوعرفاً په هراعتبارسره قبیح اوبد دی لکه چی الله تعالی فرمایي

﴿وَلاَ تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاء إِلاَّ مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتاً وَسَاء سَبِيلاً﴾ ٢٢آیت سورة النساء) تاسو هغه ښځی مه په نکاح کوی کومی چی ستاسو دپلاریانیکه په نکاح کړی وی مګر هغه مخکې تردې چی څه سوی دی هغه خوسوی دی په دې کې هیڅ شک نسته چی دابی حیائي اودالله ﷻ دډیری غصی سبب دی اوډیره بده لاره ده ..

(إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً) له دی څخه قبح عقلی ته اشاره ده یعنی هرهوښیارسړی په دې بی حیائي پوهیږی چی دپلارنکاح سوی ښځه په خپله نکاح کې راشی اوله (وَمَقْتاً) څخه قبح شرعی ته اشاره ده یعنی شرعاداکارډیر بددی اودالله ﷻ دډیر غصی اوناراضی سبب ګرزی اوله (وَسَاء سَبِيلاً) څخه عرفی قبح ته اشاره ده یعنی داطریقه ډیره بده طریقه ده ،

له براء بن عازب ﷺ څخه روایت دی چی ماخپل ماما ولیدی چی بیرغ یې رااخیستی وو روان وو ماپوښتنه ځنی وکړه پرکوم لوری روان یې ، ده په ځواب کې راته وویل چی یوه سړی دخپل پلار له نکاح سوی ښځي سره نکاح کړی ده رسول الله ﷺ زه ددې لپاره رالیږلی یم چی دهغه سرپریکړم اودهغه جایدادضبط کړم(رواه عبدالرزاق وابن ابی شیبة واحمدوالحاکم والبیهقی)

نوکله چی دبدنی پلار له ښځی سره نکاح کول عقلاً اوشرعاً اوعرفاً هررنګه قبیح اوبددی نوددروحانی پلاریعنی پیغمبر علیه السلام دبی بی رضی الله عنها په نکاح کول به په کومه درجه کې قبیح اوبدا وناوړه کار وی ..

څلورم :داچی ښځه که ددویم میړه په مخکې دلومړنی میړه لړ.ستاینه وکوی نوددویم میړه طبعاً داخبره نه خوښیږی نوځکه په شریعت اسلامی کې دبدنی پلار اوروحانی پلاربی بی په نکاح کې راوستل ډیره سخته منع کړی ده ددې لپاره چی دخپل بدنی اوروحانی پلارسره په زړه کې هیڅ خړوالی رانه سی په ځانګړی ډول بیادروحانی پلاریعنی پیغمبر علیه السلام سره دزړه خړوالی راوستل خوعین کفراوبدبختی دی

پنځم :داچی ازواج مطهرات چی درسول الله ﷺ په نکاح کې پاته سوی دی نوپه ځانګړی ډول چی دښځویه هکله کوم مسائل اوحکمونه نازل سوی دی هغه ټولو خلکو ته په سمه

طریقه ورسیږی بالفرض که دنبی کریمﷺ له وفات وروروسته دوئ دبل چاپه نکاح کې راسی نوازواج مطهرات دروایت په اعتبارسره اودباوراوثقه والی په اعتباربه تور لګونکوته دخبروځای پیدا سوی وو

(دریم) راز آیت دپاکې په اصل کې دامهات المؤمنین په هکله نازل سوی دی لکه چی دآیت مخته اووروسته ددی لپاره شاهد عدل دی چی دهغه هیڅ تاویل ته حاجت نسته اونه کومی توجیه ته اړتیاشته له سره ترپایه پوری خطاب امهات المؤمنینؓ ته دی مګر رسول اللهﷺ علیؓ اوامام حسنؓ اوامام حسینؓ اوسیدة النساء فاطمة الزهراءؓ هم په دې حکم کې داخل کړی دی دوئ یې راغونډ کړل اوداسی دعایې وکړه

اللهم هؤلاء اهل بیتی اذهب عنهم الرجس وطهرهم تطهیرا (۱) اې اللهﷻ دازمادکورنۍ غړی دی له دوئ څخه هم بدی لیری کړی اودوئ پاک کړی لکه څنګه دمسجد داآیت (لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ﴾ (۱۰۸ آیت سورة التوبه) په اصل کې دمسجد قباءپه اړه نازل سوی دی مګر رسول اللهﷺ مسجد نبوی هم په دې حکم کې داخل کړی دی ځکه هغه په درجه اولی سره ددې مستحق دی دغه رنګه دپاکۍ آیت په اصل کې دامهات المؤمنینؓ په اړه نازل سوی دی مګر دنبی کریمﷺ ټول آل اواولادددې مستحق دی ځکه نبی کریمﷺ دوئ په یوه شړۍ کې رایوځای کړه اوتیره دعایې له اللهﷻ څخه وغوښتله یواځی دوئ څلوریې رایوځای کړه دکورنورۍ ښځی ب‍ډل څوک نه ووځکه امهات المؤمینینؓ خو مخکې لا په دې حکم کې داخلی سوی وی ځکه دپاکۍ آیت ددوئ په هکله نازل سوی دی نودهغوددا خلیدواړتیانه وه په آیاتو کې له سره ترپایه ټول خطاب وامهات المؤمنینؓ ته دی بلکې اصل تقاضی دلغت داده چی ازواج اصالة داخل دی اواولاد تبعاپکې داخل دی ځکه اهل بیت په لغت کې دکورنۍ غړوته وایې اودکورنۍ په غړو کې ښځه ترټولو مخکې داخله ده اولفظ دآل په اصل کې اهل وو ځکه ددې اصل مصداق هم ښځه ده ..

دامهات المؤمنین رضی الله تعالی عنهن شمیراوددوئ دنکاح ترتیب !

درسول اللهﷺ بیبیانې یوولس وی چی په دوئ کې دوې دنبی کریمﷺ په ژوند کې وفات سوی دی یوه خدیجة الکبریؓ اودویمه زینب بنت خزیمةؓ اونه ۹ بیبیانې دنبی کریمﷺ دوفات په وخت کې ژوندی وی ..

عن ابی سعید خدریؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ماتزوجت شیئامن بناتی الابوحی جاء نی به جبرئیل عن ربی عزوجل (اخرجه عبدالملک بن محمد النیسابوری بسنده (۱)

---

(۱) عیون الاثر جلد ۲ / ص / ۳۰۰

سیف لودین کتابتون

ژباړه : له ابو سعید خدری ؓ څخه روایت دی چی رسول کریم ﷺ وفرمایل چی ماځان ته او خپلو لوڼو ته ترهغه وخته نکاح نه دی کړی ترڅو پوری چی جبرئیل ؑ ماته د الله ﷻ له لوری وحی نه وی راوړی ، دا روایت نیشاپوری په خپل سند سره ذکر کړی دی ..

لومړی بی بی ام المؤمنین خدیجة الکبری بنت خویلد رضی الله تعالی عنها !

ام المؤالمنین خدیجة ؓ په اجماع سره د رسول الله ﷺ لومړنۍ بی بی ده او په اجماع سره لومړنۍ مسلمانه ده هیڅ سړی او ښځه په اسلام راوړلو کښې تردې مخکښې نه وه خدیجة ؓ د قریشو له قبیلی څخه وه د پلار نوم یې خویلد او د مور نوم یې فاطمه بنت زائده وه د نسب لړۍ یې قریشو ته داسی رسیږی خدیجه ؓ بنت خویلد بن اسد بن عبد العزی بن قصی په قصی کښې یې له نبی کریم ﷺ سره د نسب لړۍ یو ځای کیږی (١)

خدیجة الکبری ؓ د جاهلیت په وخت کښې د جاهلیت له رواجو او دودو څخه پاکه وه ځکه د نبی کریم ﷺ تر نبوت مخکښې په طاهره معنی پاکه سره مشهوره وه ..

د دې لومړنۍ نکاح له ابو هالة بن زراره سره سوی ده چی له هغه څخه یې هند او هاله دوه زامن پیدا سوی دی هند او هاله دواړه په اسلام مشرف سوی دی نو موړی دواړه صحابه دی هند بن ابی هاله ډیر فصیح او بلیغ وو د نبی کریم ﷺ د حلیئه په اړه له ده څخه مفصل روایت سوی دی

خدیجة ؓ د ابو هاله له مړینی وروسته د عتیق بن عائذ مخزومی په نکاح کښې سوه چی له هغه څخه یې یوه لور پیدا سوه د هغې نوم هنده وه هندې هم اسلام راوړی او د نبی کریم ﷺ په ملګری ونازول سوه خو د هغې څخه هیڅ روایت نه دی نقل سوی څه وخت وروسته عتیق هم وفات سو او خدیجة ؓ دویم ځل کونډه سوه (٢)..

له نفیسه بنت منیبه ؓ څخه روایت دی چی خدیجة ؓ ډیره عزتمنده او شتمنه ښځه وه کله چی داکونډه سوه نو د قریشو هر شتمن سړی له دې سره د نکاح کولو هیله درلوده مګر کله چی رسول الله ﷺ د خدیجة ؓ د تجارت مال شام ته یووړی ډیره ګټه یې وکړه نو خدیجه ؓ د نبی کریم ﷺ خواته میلان وسو نفیسه ؓ وایې چی خدیجه ؓ زه و نبی کریم ﷺ ته ولیږلم د نکاح د خبری لپاره کله چی زه ورغلم له نبی کریم ﷺ سره مې ولیدل او نبی کریم ﷺ ته مې د خبری یادونه وکړه او ورته ومې ویل چی آیا ستا د نکاح کوم مانع سته نبی کریم ﷺ وفرمایل زما په لاس کښې هیڅ نسته ما ورته وویل چی که ستا د مال چاره وسی مال او ښائست او کفائت ته تا ته بلنه درکول سی بیا خو به بل عذر نه وی نبی کریم ﷺ وفرمایل هغه څوک دی ما ورته وویل خدیجة ؓ نبی کریم ﷺ هم سمد ستی ومنله (٣)

---

(١) الاصابه جلد ۴ /ص /٢٨١)
(٢) زرقانی جلد ٣ /ص /٢٢)
(٣) الاصابه جلد ۴ /ص /٢٨٢)

سیف لودین کتابتون

دخدیجه رضي الله عنها دغوښتنې اصلي لامل داوو چې کله دنبي کریم ﷺ دنبوت اورسالت وخت رانژدې کیدی هغومره دنبي کریم ﷺ کرامتونه اودنبي کریم ﷺ دنبوت زیرې ډیریدل کله به دتورات اوانجیل دعلماء په ژبه سره اوکله دکاهنانواوکله په هواتف اوغیبي آوازونو سره وو دتوارت اوانجیل هرعالم چې به نبي کریم ﷺ ولیدی همدابه یې ویل چې داهلک اوځوان دآخرې زمانې نبي علیه السلام اوپیغمبر علیه السلام دی داهم هغه نبي علیه السلام دی چې موسی علیه السلام اوعیسی علیه السلام یې زیرې ورکړې دی ..

خدیجة رضي الله عنها په دې پیښوښه پوهیدله دې دشام دسفرقصه له خپل مریي میسره څخه واوریدله اودراهب قصه یې هم واوریدله دبحیراراهب قصه تردې سفر مخکې پیښه سوې وه بل ددې داکازوی ورقه بن نوفل دتورات اوانجیل لوی عالم وو دنبي آخرالزمان ﷺ دښکاره کیدو منتظروو چې دده تفصیلي قصه دبعثت نبوي په بیان کې تیره سوه

ددې پیښوپه اړه دخدیجه رضي الله عنها په زړه کې له نبي کریم ﷺ سره دنکاح مینه پیداسوه اوپه همدې وخت کې یوه بله پیښه هم وسوه هغه داسې چې دجاهلیت په اخترو کې به دمکې ښځې رایوځای سوې په دوئ کې خدیجه رضي الله عنها هم وه دوئ ناستې وې چې یوسړی راښکاره سو اوپه لوړآوازیې داسې وویل (انه سیکون فی بلدکن نبی یقال له احمدفمن استطاع منکن ان تکون زوجة له فلتفعل فحصبنه الاخدیجة فاغضت علی قوله رواه المدائنی عن ابن عباس رضي الله عنهما (۱)

ژباړه : اې ښځوستاسوپه کلي کې به نژدې یونبي علیه السلام راښکاره سي چې دهغه نوم به احمد ﷺ وي په تاسو کې چې کومه ښځه دهغه مبارک بي بي جوړیدای سي نوداکاردې هرومروو کړي ټولوښځوآواز کونکئ په کاڼوویشتې مګر خدیجة رضي الله عنها هیڅ کاڼې ونه ویشتې بلکې غلې پاته سوه ..

خدیجة رضي الله عنها وایې زماړه مخکې لاددې نیک بختۍ په حاصلیدوکې دهیلواوامیدویوه ځانګوجوړه سوې وه مګر دې غیبي آوازبیا زمامینه نوره هم زیاته کړه

دابن اسحق په روایت کې راغلي دي چې دخدیجة رضي الله عنها مریئ میسره چې کله دشام له سفره راستون سو اوټولې پیښې اوقصې اودنسطورا راهب خبرې یې ورته بیان کړې نوخدیجة رضي الله عنها چې واوریدل داسې یې وفرمایل ان کان ماقال الیهودی حقاماذاک الاهذا که دیهودي راهب خبره رښتیاوي نوبیاددې مصداق هم همدادی (۲) له دې څخه معلومیږي چې په اخترکې دښځورایوځای کیدل دمیسره ترراستنیدومخکې وو .

---

(۱) زرقاني جلد ۳ /ص/ ۲۲۰)
(۲) زرقاني جلد ۳ /ص/ ۲۰۰)

سیف لودین کتابتون

دخدیجة رضی الله عنها نوم طاهره نه دی ایښودل سوی بلکې خلکو هغې ته طاهره ویل ددې لپاره چې ددې دپاکۍ خبر مشهور سی لکه څنګه چې په نبی کریم ﷺ ته آمین ویل کېدل ددې لپاره چې دهغه امانت او دیانت ومنل سی او هیچاته دهغه په خبرو کې دګوت نیونی ځای پاته نه سی ددا سی پېښې په اړه ویل سوی دی چې دخلکو ژبه په خپله دربښتینولی تصدیق وکړی خدیجة رضی الله عنها دخپل وخت مریم وه څکه دمریم (ع) په څیر ودې ته هم وَطَهَّرَكِ واصطفاک علی نساء العالمین: څخه خاصه برخه ورسیدله او دطاهره په نامه سره مشهوره سوه اوس ښکاره خبره ده چې ددا سی پاکی ښځې میلان یو پاک سړی ته کېږی الله تعالی رښتیا ویلی دی او ترده بل څوک رښتینی نه سی کیدای (الطیبات للطیبین والطیبون للطیبات) داخبره خو هرچاته معلومه ده چې نبوت او رسالت خوځه دپاچهی منصب نه دی ددنیا دعیش او عشرت سره ددې منصب یوه زره تعلق هم نسته د درهم او دینار داتوان نسته چې دپیغمبر علیه السلام په کورکې شپه تیره کی مګر داچې دقرض غوښتونکي په انتظارکې یوه یانیمه شپه تیره کې ډیری شپې او ورځی به تیرې سوی مګر دنبی کریم ﷺ په کورکې به اور نه بلیدی او ډیری شپې به یې په کورکې څراغ او ډیوه نه ده لګیدلی او داهم هرچاته معلومه ده چې دمال او شتمنی ښه ژوند او زر او زیور مینه دښځو په فطرت کې اخښل سوی ده مګر له دی ټولو سره سره بیا هم خدیجه رضی الله عنها دټولو مشرانو او مخورو خلکو هیله او امید پرېښودی او له نبی کریم ﷺ سره یې دواده غوښتنه وکړه او دنبی کریم ﷺ خواته میلان ددې دپاکۍ ښکاره دلیل دی او له دې څخه دخدیجة رضی الله عنها دپوهی او زیراکت اندازه کېږی دپیغمبر علیه السلام دنکاح غوښتنه او هیله درلودل دمعمولی عقل کارنه دی بلکې دډیرلیری لیدونکی او دمخکې په فکرکونکي عقل ودې ته تیارېږی څکه عقل وایې چې دپیغمبر علیه السلام په نکاح کې راتلو لپاره داشرط دی چې ددنیا څخه لاس ومینځه او دفقر او لوږی او بدخوابی ته ځان تیار کړه تلتک او بستره دسرو زرو ترغالۍ ډیرغوره وګڼه دپیغمبر علیه السلام دبی بی کیدو هیله دفقر او لوږی ارمان دی غمونه او دردو ته بلنه ورکول دی ..

اما م شافعی رحمة الله علیه فرمایلی دی که یو سړی داوصیت کی چې زما دمرګ څخه وروسته دی زما شتمنی تر ټولو هوښیار سړی ته ورکړل سی نو ترمرګ وروسته به ددې سړی شتمنی هغه چاته ورکول کېږی کوم چې په دنیاکې تر ټولو تقوی دار او پرهیزګاره او له دنیا سره بی مینی وی کذا فی تنبیه المعترین للشعرانی صفحه ۵۰)

څکه تر ټولو ډیر هوښیار سړی هغه دی چې فانی دنیا پرېږدی او راتلونکي غوره کړی تردی به ډیرناپوه څوک وی چې دآخرت همیشني نعمتونه پرېږدی او یوه مرداره په رانیسی

﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ﴾ ۱۶ آیت سورة البقرة)

سیف لودین کتابتون

خديجه رضي الله عنها د دنيا مينه پرېښې وه او په ښه فکر سره يې له خپل لورې لومړی دې پيغام ولېږی او د مکې د مشرانو هيلې او اميدونه يې په خاورو لړل ډېره ښه دې وی داسې مبارکه ښځه چې د دنيا سره د مقابلې لپاره ټينګ عزم او هوډ ولري خو هغه د دنيا د خلکو په نظر کې چيرې راتلای سی کله چې د مال سره اړيکې پاته نه سی نو دهغې له د اولاد سره به څه اړيکې پاته سی د مکې مشران اوشتمن هغه ښځه خپل ځان ته نه سی مائله کولای چې هغه د خپلو شتو د پلورلو لپاره د الله ﷻ په لاره کې تياره ناسته وی

نبي کريم ﷺ له خپل مهربان آکا ابوطالب سره مشوره وکړه اودا پيغام يې قبول کی د خديجه رضي الله عنها پلار خويلد خو مخکې وفات سوی وو مګر د دې آکا عمرو بن اسد د نکاح په وخت کې ژوندی وو هغه په دې خطبه کې شريک سو په يوه معلومه ورځ ابوطالب د کورني له نورو غړو سره يو ځای چې په دوئ کې حمزه رضي الله عنه هم وو د خديجه رضي الله عنها کور ته ورغلل او د نکاح مراسم پرځای سو ابوطالب د نکاح خطبه ولوسته چې د هغې يادونه موږ د کتاب په سر کې وکړه او پنځه سوه درهم مهر ولو روتاکل سو (۱)

د نکاح په وخت کې د خديجه رضي الله عنها عمر څلويښت کاله وو او د نبي کريم ﷺ عمر په دغه وخت کې پنځه ويشت کاله وو د نکاح تړلو په مجلس کې ورقه بن نوفل هم ناست وو ابوطالب چې کله د نکاح خطبه ولوسته نو ورقه بن نوفل لنډی خبری هم وکړی چې په زرقاني کې د ده د خبرو يادونه سوی ده (۲)

د خديجة الکبری رضی الله تعالی عنها وليمه !

په يو شمير رواياتو کې راغلی دی چې د ايجاب او قبول څخه وروسته خديجه رضي الله عنها يوه غوا حلاله کړه او خوراک يې پوخ کی او ميلمنو ته يې خوراک ورکړ (۳)

لنډه دا چې د خديجه رضي الله عنها ارمانو او هيلو لومړنی پيل وو مګر هغه مقصود او منزل يعنی د نبي کريم ﷺ نبوت او رسالت لا ليري وو او د هيلو او اميدو په انتظار په نا آرامی کې لا تر اوسه هم هغه شان وه ،، يوه ورځ نبي کريم ﷺ د خديجه رضي الله عنها خوا ته راغلی خديجه رضي الله عنها چې کله وليدی نو هغه يې په غيږ کې ټينګ ونيوی او له سينې سره يې ومښلوی او وې ويل (بابی وامی والله ما افعل هذا شئ ولکنی ارجوان تکون انت النبی الذی ستبعث فان تکن هو فاعرف حقی ومنزلتی وادع الاله الذی يبعثک لی قالت فقال لها والله لئن کنت انا هو قد اصطعنت عندی مالا اضيعه ابدا وان يکن غيری فان الاله الذی تضعين هذا لاجله لايضيعک ابداً (۴)

(۱) زرقانی جلد ۳ /ص/ ۲۲۰)
(۲) زرقانی جلد ۳ /ص/ ۲۲۱)
(۳) زرقانی جلد ۳ /ص/ ۲۲۱)
(۴) فتح الباری جلد ۷ /ص/ ۲۰۰)

سیف لودین کتابتون

ژباړه : زمامور اوپلاردې په تاقربان وی له دې کارسره زماهيڅ تړاونسته مګر داچې زماهيله ده چې کيدای سی ته به هغه نبی ﷺ يې کوم چې نژدی راليږل کيږی نوکه ته نبی ﷺ سوی نودنبوت څخه وروسته زماحق يادساته اوهغه الله ﷻ چې تاته نبوت درکړی له هغه څخه زمالپاره ببښنه وغواړه نبی کريم ﷺ ځواب ورکي که هغه نبی ﷺ زه سوم نوپوه سه چې تاله ماسره ډير نيکی کړی ده او زه هغه هيڅکله نه سم هيرولای اوکه له ماپرته بل څوک سونوپوه سه چې دهغه الله ﷻ لپاره چې ته داعمل کوی هغه به هيڅکله ستاعمل نه بی عبث کوی ..

زبيربن بکار ؒ روايت کوی چې خديجة ؓ ډيرځله ورقه بن نوفل ته ورغله اودنبی کريم ﷺ په هکله به يې پوښتنه ځنی وکړه ورقه ځواب ورکي (ما اراه الانبی هذه الامة الذی بشربه موسی وعيسی) زماګمان دادی چې داهم هغه نبی ﷺ دی چې موسی ﷺ اوعيسی ﷺ يې زيری ورکړی دی ..

په يوروايت کې راغلی دی چې خديجة ؓ يوه ورځ ورقه بن نوفل ته ورغله اودنبی کريم ﷺ حالات يې ورته بيان کړه نو ورقه يوه قصيده ولوسته چې دهغې يوشميرشعرونه دادی

هَذِی(١) خَدِيجة تَأتِينِي لِاُ خبِرَهَا .... وَمَا لَنَا بِخفِی الْغَيْب مِنْ خَبَر

بِأَنَّ اَحْمَدَ يَأْتِيهِ فَيُخْبِرَهُ .... جِبرِيل اِنَّکَ مَبْعُوثٌ اِلَی الْبَشَرْ

خديجة ؓ په واروار زماخواته راځی چې زه دې ته دنبی ﷺ خبروركړم اوزه په غيبو خبرنه يم چې جبرئيل ﷺ به دالله ﷻ له لوری دته پيغام راوړی چې ته خلکوته نبی راليږل سوی يې ..

فَقُلْتُ عَلَی الَّذِیْ تُرْجِيْن يَنجِزُهُ .... لکَ الْاِلٰهُ فَرِجِّیْ الْخَيْرَوَاُنْتَظِرِیْ

ورقه وايې ماخديجة ؓ ته ځواب ورکي چې کيدای سی چې ته دکوم شئ هيله لری الله تعالی ستاامیدپوره کې ته دالله ﷻ څخه دخيرغوښتنه کوه اوددې انتظارکوه (اصابه ترجمه ورقه بن نوفل دورقه داشعرونه په مستدرک کې هم ذکرسوی دی حافظ ذهبی په دې باندی سکوت کړی دی دورقه نوری قصيدی هم سته چې دهغې څخه دورقه مينه اوانتظارمعلوميږی (٢)

دنبی کريم صلی الله عليه وسلم اولاد !

دخديجة ؓ له نبی کرُيم ﷺ څخه څلورلوڼی وی ، زينب ؓ رقيه ؓ ام کلثوم ؓ اوفاطمه ؓ اودوه زامن يې پيداسوی دی چې تفصيلی بيان به داولادوپه بيان کې راسی .نارينه اولادونه يې په کوچنی والی کې وفات سوی دی اولوڼې يې غټې سوی اوواده سوی دی

(١) په هذی سره اشاره وخديجة ؓ ته نه دی بلکې ددې دمينی اوشوق اوددې وانتظارته دی چې دايې نارامه کړی وه داسی مثال لری لکه چې ددې مينه اوغم يوليدل سوی شئ دی وهغه ته اشاره کيدای سی (منه عفاعنه)

(٢) روض الانف جلد١ /ص /٢٢٥، ١٢٧)

سیف لودین کتابتون

دخدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها وفات!

ترڅو چې خدیجة رضي الله عنها ژوندی وه ترهغه وخته پورې نبی کریم ﷺ بل واده نه دی کړی خدیجه رضي الله عنها په کال لسم ۱۰ نبوی کې ترهجرت درې کاله مخکې په مکه مکرمه کې وفات سوه اودجحول په نامه ځای کې ښخه سوه نبی کریم ﷺ په خپله قبرته کښته کړه دجنازی لمونځ لاپه دغه وخت کې نه وومشروع سوی پنځه ویشت کاله یې له نبی کریم ﷺ سره تیر کړه اودپنځه شپیتو کالوپه عمروفات سوه (انالله وانااليه راجعون)

دخدیجة الکبری رضي الله عنها فضائل اومناقب!

(لومړی) په بخاری اومسلم کې له ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت سوی دی چې یوه ورځ جبرئیل امین علیه السلام نبی کریم ﷺ ته راغلی اووې ویل چې یارسول الله ﷺ اوس خدیجة رضي الله عنها ستاپاره خوراک راوړی کله چې داراسی نوودې ته دخپل رب ﷻ له لوری اوزماله لوری سلام ورایه اوپه جنت کې دیوی ماڼۍ زیری ورکړه چې له ملغلروبه جوړه سوی وی اوپه دې ماڼۍ کې به نه شور اوزوږ وی اونه به هیڅ تکلیف اوستونزی وی (دادبخاری اومسلم روایت دی دنسائی په روایت کې راغلی دی چې کله خدیجة رضي الله عنها دالله ﷻ سلام واوریدی نوداسی ځواب یې ورکړي (ان الله هوالسلام وعلی جبرئیل السلام علیک یارسول الله السلام ورحمة الله وبرکاته وزادابن السنی من وجه آخر وعلی من سمع السلام الاالشیطان)

ژباړه: په تحقیق سره الله تعالی خوپه خپله سلام ذات دی یعنی په الله ﷻ باندی څنګه سلام وویل سی خواې جبرئیل علیه السلام په تاباندی دې سلام وی اویارسول الله ﷺ په تاباندی سلام وی اودالله ﷻ رحمتونه اوبرکتونه دی پرتاباندی نازل وی دابن سنی په روایت کې نورزیادت هم سوی وایې چې دې وویل چې پرهغه چادی هم سلام وی چې زماسلام اوری پرته له شیطان..

طالبان که دحدیث رازونه اوباریکۍ ځان ته معلومول غواړی نوفتح الباری باب تزویج النبی صلی الله علیه وسلم خدیجة وفضلها اوزرقانی شرح مواهب (۱) دې وګوری ددې معلوماتواوباریکیو تعلق له عربی اوبلاغت سره دی ځکه موږدلته نه راوړه حافظ ابن قیم فرمایلی دی چې دالله تعالی وچاته سلام رالیږل داسی غوره والی اومرتبه ده چې په دې مرتبه کې له خدیجة رضي الله عنها سره هیڅوک نه سی برابریدای

(دویم) دعلماء پردې خبره اتفاق دی چې په ښځوکې ترټولوغوره څلور ښځې دی اوحافظ ابن عبدالبروایې چې دابن عباس رضي الله عنه په یومرفوع روایت سره داسوال حل کیږی چې په دوئ څلوروکې کومه یوه غوره ده هغه روایت داسی دی:

(سیدة نساء العالمین مریم ثم فاطمة ثم خدیجة ثم آسیه قال وهذاحدیث حسن یرفع الاشکال)

---

(۱) زرقانی جلد ۳/ص/۲۲۳)

سيف لودين کتابتون

ژباړه د ټول نړۍ د ښځو سرداره مريم ده بيا فاطمه رضي الله عنها او بيا خديجة رضي الله عنها او بيا آسيه د فرعون ښځه ده ابن عبدالبر وايي دا حديث حسن دی او په دې سره سوال هم حل کيږی که مو تفصيل په کار وی نو زرقاني شرح مواهب او فتح الباری او تفسير روح المعاني (۱) وګوری

دويمه بی بی سَوده بنت زمعه رضی الله تعالی عنها !

د خديجة الکبری رضي الله عنها له وفات څو ورځې وروسته سوده بنت زمعه رضي الله عنها د نبی کريم ﷺ په نکاح کې سوه دا هم د قريشو له عزتمندو ښځو څخه وه د دې د نسب لړۍ داسې ده سوده بنت زمعة بن قيس بن عبدشمس بن عبدود بن نصر بن مالک بن حسل بن عامر بن لوئ (سيرة ابن هشام وعيون الاثير) په لوئ بن غالب کې يې د نسب لړۍ له نبی کريم ﷺ سره يوځای کيږی د مور نوم يې شموس بن قيس بن عمرو بن زيد انصاريه دی موريې د انصارو له بني النجار قبيلې څخه وه سوده رضي الله عنها د نبوت په پيل کې په اسلام مشرف سوه او لومړنی نکاح يې د خپل آکاله زوی سکران بن عمرو رضي الله عنه سره وسوه صحابه کرامو رضي الله عنهم چې کله حبشې ته دويم ځل هجرت وکي نو سوده رضي الله عنها او سکران رضي الله عنه هم په دې مهاجرينو کې وو کله چې مکې ته بيرته راستيندل په لاره کې سکران رضي الله عنه وفات سو دده يو زوی عبدالرحمن رضي الله عنه پاته سو عبدالرحمن رضي الله عنه په اسلام مشرف سوی دی او د جلولا په جنګ کې شهيد سو

رسول الله ﷺ د خديجة رضي الله عنها په مړينه باندې ډير غمجن او خفه وو يوه ورځ خوله بنت حکيم د نبی کريم ﷺ په خدمت کې حاضره سوه او غوښتنه يې وکړه چې يارسول الله ﷺ زه تا د خديجة رضي الله عنها په مرګ سره ډير خفه او غمجن وينم نبی کريم ﷺ وفرمايل هو د ماشومانو پالنه او د کور کارونه ټول خديجة رضي الله عنها کول اوس زما په غاړه دی خوله ورته وويل آيا زه ستا لپاره د نکاح پيغام چاته يوسم نبی کريم ﷺ وفرمايل ښه کار دی ځکه د دې کار لپاره ښځې ډيرې مناسبې دی نبی کريم ﷺ وفرمايل وچاته دی زما پيغام وړلو خيال دی خوله وويل که له پيغلې سره نکاح کول غواړی نو ستا په نزد په ټول مخلوق کې تر ټولو د غوره سړی لور عائشه صديقه رضي الله عنها سره واده وکړه او که له کونډې سره واده کول غواړی نو سوده بنت زمعه رضي الله عنها هم شته او پرتا باندې يې ايمان هم راوړی دی او ستا پيروی يې کړې ده نبی کريم ﷺ وفرمايل دواړه ځايو ته زما پيغام ورسوه خوله لومړی سوده رضي الله عنها ته ورغله ورته وې ويل چې زه رسول الله ﷺ رالیږلې يم غواړې چې له تا سره نکاح وکوی سوده رضي الله عنها وويل زما له لورې هيڅ عذر نسته زما خو ښه ده خو زما پلار ته د دې يادونه وکړه او د جاهليت په طريقه هغه ته سلام وکړه خوله وايي زه هم سمدستي د دې وپلار زمعه ته ورغلم او د جاهليت په طريقه مې ورته وويل ، انعم صباحاً نو موړی پوښتنه وکړه چې څوک يې ما ورته وويل خوله يم وروسته ده مرحبا راته وويل او پوښتنه يې وکړه چې څنګه راغلې

سیف لودین کتابتون

يې ماورته وويل دمحمدبن عبدالله بن عبدالمطلب ﷺ لپاره مې ستادلورسره دنكاح پيغام راوړی دی كله چې هغه واوريدل وې ويل هورښيتاهم هغه ډير عزتمندشريف همزولی دی مګر ماته دسوده رضي الله عنها رايه نه ده معلومه چې دهغې څنګه خوښه ده ماورته وويل دهغې بالكل خوښه ده..

له دې پيغام رسيدو وروسته نبی كريم ﷺ په خپله هلته تشريف يوړوی اونكاح وسوه دسوده رضي الله عنها ورور عبدالله بن زمعه تردغه وخته لاپه اسلام نه وو مشرف سوی كله چې هغه خبرسونوپرسرباندی خاوری واچولی وروروسته بياپه اسلام مشرف سو خوبياپردې كار ډيرپښيمانه وو اوكله چې به وريادسو نودابه يې ويل چې زه په هغه ورځ څومره لوی جاهل وم په كومه ورځ چې ماله دې كبله پرسرخاوری اچولی چې له رسول الله ﷺ سره زمادخورنكاح سوی ده (داروايت امام احمدپه جيدسندسره روايت كړی دی اوددې سندحسن دی (١)

دسوده رضي الله عنها اوعائشه صديقه رضي الله عنها ودونه سره نژدی وه ځكه دعلماء په دې كې اختلاف دی چې كومه نكاح مخكې سوی وه صحيح اوراجح قول دادی چې دسوده رضي الله عنها نكاح مخكې سوی ده اوددې ولور څلورسوه درهمه وټاكل سو (٢)

يوه ورځ رسول الله ﷺ سودی رضي الله عنها ته دطلاق وركولونيت وكی سوده رضي الله عنها غوښتنه وكړه چې يارسول الله ﷺ ماپه خپله نكاح كې پريږده زماهيله داده چې دقيامت په ورځ الله تعالی ماستاپه بيبيانوكې راپورته كړی اوزه سپين سری يم ځكه زمانوبت عائشه صديقه رضي الله عنها ته وركوم نبی كريم ﷺ داخبره ورسره ومنله اوپه يوشميررواياتوكې راځی چې نبی كريم ﷺ طلاق وركي خووروسته يې بيرته رجوع وكړه والله اعلم (٣)

دسوده رضي الله عنها شكل اوصورت !

دسوده رضي الله عنها اوږدقد اوغټ بدن وو په طبيعت كې يې هوښيارتيااوزيراكت وو كله كله به يې رسول الله صلی الله عليه وسلم خندوي هم دذی الحجه په مياشت په كال ٢٣ هجری كې په مدينه منوره كې دعمرفاروق رضي الله عنه دخلافت دپاي په شپوكې وفات سوه (رواه البخاری فی تاريخه بسندصحيح)،،

اويوشميرنور بياوايې چې په كا ٥۴ هجری كې وفات سوی ده واقدی داروايت راجح ګرزولی دی والله اعلم (۴)

---

(١) زرقانی جلد ٣ /ص/ ٢٢٧)
(٢) زرقانی جلد ٣ /ص/ ٢٢٧)
(٣) الاصابه جلد ۴ /ص/ ۴٣٨)
(۴) الاصابه جلد ٢ / ص/ ٣٣٩)

دریمه بی بی ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها وعن ابیها !

عائشه صدیقه رضی الله عنها دابوبکرصدیق رضی الله عنه لوراودمورنوم یې زینب وو اوأم رومان یې لقب دی (۱) دعائشې رضی الله عنها اولادنه دی سوی مګر دخپل خوریی عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په نامه سره یې ام عبدالله پرځان ایښی وو دسوده رضی الله عنها څخه وروسته یاسمدستی دکوچنی اخترپه میاشت کې په کال لسم ۱۰ نبوی کې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې سره نکاح وکړه خوله بنت الحکم دنبی کریم ﷺ پیغام یوړی لکه مخکې چی تیرسو ابوبکرصدیق رضی الله عنه وویل چی مطعم بن عدی دخپل زوی جبیرلپاره دعائشې رضی الله عنها غوښتنه کړی وه اوهغه مامنلی ده (والله ماأخلف ابوبکروعداقط) اوقسم په الله ﷻ ابوبکرصدیق رضی الله عنه هیڅکله له چاسره وعده خلافی نه ده کړی ابوبکرصدیق رضی الله عنه داخبروکړه اوسمدستی دمطعم کورته ورغلی اومطعم ته مخامخ سو ورته وې ویل چی دنکاح په اړه ستاڅنګه خوښه ده دمطعم ښځه هم ناسته وه مطعم خپلې ښځي ته وویل ستاڅنګه خوښه ده دمطعم ښځی ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته وویل چی ستاله لورسره زمادزوی نکاح له ماسره دااندیښنه پیداکړی ده چی هسی نه چی زمازوی صابی بی دینه نه سی دخپل پلارا ونیکه له دینه وانه وړی اوستاسوپه دین کې داخل نه سی، ابوبکرصدیق رضی الله عنه مطعم ته مخ واړوی اوورته وې ویل اې مطعم ته څه وایې؟ مطعم وویل زماښځی چی څه وویل هغه تاواوریدل مطعم اودده ښځی په دواړوداخبره ونه منله ابوبکرصدیق رضی الله عنه وویل چی اوس نودژمنی مخالفت زماپه غاړه نه دی ابوبکرصدیق رضی الله عنه له هغه ځایه خپل کورته راغلی اوخوله ته یې وویل چی زماخوښه ده رسول الله صلی الله علیه وسلم چی څه وخت غواړی هغه وخت دې تشریف راوړی خوله نبی کریم ﷺ ته پیغام یوړی نبی کریم تشریف راوړی اونکاح وسوه څلورسوه درهم ولور وټاکل سو ترهجرت درې کاله مخکې دکوچنی اخترپه میاشت کې په کال لسم ۱۰ نبوی کې نکاح وسوه دعائشه صدیقه رضی الله عنها عمرپه دغه وخت کې شپږ کاله وو له هجرت اوه ۷ یااته ۸ میاشتی وروسته دکوچنی اخترپه میاشت کې دواده مراسم سرته ورسیدل په دغه وخت کې عائشه صدیقه رضی الله عنها دنه ۹ کالو اوڅومیاشتووه نه ۹ کاله یې دنبی کریم ﷺ دنبی کریم ﷺ په ژوند کې تیرکړه کله چی نبی کریم ﷺ وفات سو په دغه وخت کې دعائشه صدیقه رضی الله عنها عمر ۱۸ اتلس کاله وو اته څلویښت کاله دنبی کریم ﷺ له وفات وروسته ژوندی وه اوپه کال ۵۷ هجری کې په مدینه منوره کې وفات سوه اودوصیت برابر له نوروامهات المؤمنین رض سره یوځای

(۱) ام رومان رضی الله عنها اولنی مسلمانه ده اوله نبی کریم ﷺ سره بیعت کړی کله چی ابوبکرصدیق رضی الله عنه هجرت کوی مدینی منوری ته ورسیدی وروسته بیاعبدالله بن ابی بکرصدیق رضی الله عنه سره هجرت وکی مدینی ته ولاړه مشهوخبره داده چی په کال ۶ هجری کې وفات سوی ده اونبی کریم ﷺ داقبرته ښکته کړی ده اوام رومان لپاره یې دبخښنی دعاء وکړه دتفصیل لپاره اصابه جلد ۴ /ص /۴۵ ترجمه ام رومان)

سیف لودین کتابتون

دشپې په جنت البقیع کې ښخه سوه دوفات په وخت کې د ٦٦ کالوپه عمروه ابوهریرة ﷜ دجنازې لمونځ پروکې قاسم بن محمد ﷜ اوعبدالله بن عبدالرحمن ﷜ اوعبدالله بن ابی عتیق اودزبیر دواړه زامن عروه اوعبدالله قبرته کښته کړه (١)

دابوسعید خدری ﷜ په تیرسوی روایت کې راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ماله هیڅ یوی ښځی سره ترهغه وخته نکاح نه ده کړې ترڅوچې جبرئیل آمین ﷺ دالله ﷻ وحی نه وی راوړې اودعائشه صدیقه ﷝ په نکاح کی هم همداسی وو

په جامع ترمذی کې له عبدالله بن عمر ﷜ څخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې جبرئیل ﷺ راغلی اوماته یې وویل چې الله تعالی ستانکاح دابوبکرصدیق ﷜ له لوری سره وکړه اودجبرئیل ﷺ سره دعائشې ﷝ یوتصویرهم وو چې په هغه کې یې ماته عائشه صدیقه ﷝ وښوده اووې ویل چې داستابی بی ده دامضمون په صحیح بخاری اوصحیح مسلم کې هم راغلی دی (٢)

عائشه صدیقه ﷝ دمبارک پلار ابوبکرصدیق ﷜ لوروه دپلاردپوهی اوزیراکت اودرښتینولی له مقام څخه یې ځانګړې برخه درلوده او اُم رومان دد ې مبارکې موروه چې ددې په اړه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې څوک غواړی حورعین ووینی نوهغه دی ام رومان ته وګوری (کمارواه البخاری فی تاریخه (٣)

دالله ﷻ دمهربانی داغوښتنه وه چې دخپل پیغمبر ﷺ دځانګړې اوخواږه ملګری اودغاردملګری لور دکوچنیوالی څخه دپیغمبر ﷺ په نکاح اوپالنه کې راسی څکه ددې زړه تردې وخته ییخی پاک اوسپیڅلی وو هیڅ ناروانقش ددې پرزړه نه ووښکل سوی څکه داخودمعصومیت وخت دی دموراوپلارهم دهیڅ ناروا نقش امکان نه وو څکه پلارخویې صدیق ﷜ دی چې ملائکه ورسره غبطه کوی اوموریې ام رومان ده چې حورعین ورته ویل سوی دی دالله ﷻ همیشنی ملګری ددې پلارته وریه برخه وه اودموریې دحورعین یوه نمونه وه پرداسی پاکه اوسپیڅلی تخته باندی دپیغمبری دعلم هرنقش چې وی هغه داسی ټینګ اومضبوط وی چې هیڅلکه نه خرابیږی اودنه ٩ کاله په تیریدوسره داسی فراخ اوژورعلم ورته حاصل سو چې دنبی کریم ﷺ له وفات وروسته به لوی صحابه کرام ﷡ چې به کله له کومی ستونزی سره مخامخ سو نوعائشه صدیقه ﷝ ته

(١) زرقانی جلد ٣ /ص /٢٢٩. ٢٣٦)

(٢) داپیښه دعالم الغیب ده په دې سره په عالم شهادت کې دعکس په رواوالی باندی دلیل نیول ډیر لویه غلطی ده څکه په متواتروا حادیثوسره دعکس تصویر منعه راغلی ده اوعکس په جوړونکو باندی لعنت دلمر په څیرثابت دی څوک چې دعکس په حراموالی باندی پوهیږی اوداګناه کوی دالوی ګنهګاردی اوڅوک چې عکس یاتصویررو ابولی نوپه هغه باندی دکفرویره ده په دلیل ددې قول دالله تبارک وتعالی (قاتلوا الذین لایؤمنون بالله ولاباليوم الاخر ولایحرمون ماحرم الله ورسوله (الایه)

(٣) زرقانی جلد ٣ /ص / ٢٣٤)

سيف لودين كتابتون

به راتلل دصحابه کرام ﷺ په وخت کې دعائشه صدیقه رضی الله عنها علم فقه او تاریخ پیژندنه منل سوی دی په دین دموره خبره وه وه چی ویل سوی دی چی داحکاموشرعیه وو څلورمه برخه له عائشی صدیقه رضی الله عنها څخه نقل سوی ده،، ابوموسی اشعری رضی الله عنه وایې کله چی به صحابه کرام رضی الله عنهم ته په کومه مسئله کې یومشکل رامخی ته سو نودعائشه صدیقه رضی الله عنها څخه به یې پوښتنه کوله اوله دې سره به هرومروپه دی اړه څه علم وو (رواه الترمذی وصححه)

دعائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها علم اوپوهه !

زهری وایې چی که دعائشه صدیقه رضی الله عنها علم له ټولو امهات المؤمنین رض اوله ټولو ښځوسره وتلل سی نودعائشی صدیقه رضی الله عنها علم به ترټولوډیروی (اصابه ترجمه عائشه رضی الله عنها)

دفصاحت اوبلاغت یوه نمونه وه معاویه رضی الله عنه فرمایې چی ماهیڅ یوخطیب ترعائشه صدیقه رضی الله عنها ډیر فصیح اوبلیغ نه دی لیدلی (رواه الطبرانی)

دعربوتاریخ پوهنه اودپیښبویادونه اوډیرعربی شعرونه یې یادوو کله چی به کومه خبره یاده سوه دې په ځواب کې شعروایو (کماروا ه ابوالزناد وغیره (۱)

دعائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها تقوی اوپرهیزګاری !

عائشه صدیقه رضی الله عنها خودعلم اوپوهی یوه نمونه وه اوس یوه پیښه ددې پرهیزګاری درته بیانه وو ځکه دټولوکمالاتوسرچینه دوه شیان دی یوعلم اوبل زهدیعنی له دنیاسره اړیکی شلول لکه څنګه چی ددنیامینه دټولوګناهوجرړه اوریښه ده دغه رنګه تقوی اوپرهیزګاری دټولوښیګڼوجرړه ده (اللهم زهدنافی الدنیا ورَغبنَا فی الآخرة آمین یارب العالمین)

قصه داسی وه :

ام دره رضی الله عنها به دعائشه صدیقه رضی الله عنها ته ورتله ام دره وایې چی یوه وورځ عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په دوو ګونیو کې روپۍ واچولی اوډکی یې کړی اوعائشه صدیقه رضی الله عنها ته یې ولیږلی چی هغه تقریبایوسلواتیازره درهمه وو کله چی عائشه صدیقه رضی الله عنها ته تسلیم سو دې سمدستی پربی وزلو او مسکینانو وویشل کله چی ماښام سو نویودرهم هم ورته پاته نه سو روژه وه کله چی ماښام سو نوخادمی ته یې وویل چی روژه ماتی راوړه خادمی ډوډۍ اودزیتون تیل ورته کیښودل ام دره رضی الله عنها وایې ماورته وویل که تادیوه درهم غوښه راغوښتی وای نوښه به وه عائشه صدیقه رضی الله عنها وفرمایل که تاراته یادکړی وای نوراغوښتی به می وه

عروه رضی الله عنه وایې چی مالیدلی دی چی عائشه صدیقه رضی الله عنها به اویا ۷۰ اویازره درهم پربی وزلو ویشل اوپه خپلو جامو کې به یې پینی پیوندلګولی وو (۲)

دعائشه رضی الله عنها فضائل اوکمالاتوپه بنیاد باندی رسول الله صلی الله علیه وسلم ترټولو ډیره مینه له عائشه صدیقه رضی الله عنها سره درلوده که یواځی دباکره والی په وجه سره مینه وی نوخدیجة رضی الله عنها به یې هیره کړی وای مګر دنبی کریم ﷺ داسی حالت وو چی تل به یې خدیجه

(۱) زرقانی جلد ۳ /ص / ۲۳۴)
(۲) صفة الصفوة جلد ۱ /ص /۱۴)

سیف لودین کتابتون

رضي الله عنها یادوله او کله چې به یې یو پسه یا بل داسې شئ حلال کې نو د خدیجې رضي الله عنها ملګروته به یې هدیهٔ غوښه لیږله ترڅو پورې چې خدیجه رضي الله عنها ژوندۍ وه نبي کریم ﷺ له بلې ښځې سره نکاح نه ده کړې او عائشه رضي الله عنها ژوندۍ وه نبي کریم ﷺ له اتو نورو ښځو سره نکاح کړې ده او نکاح یې هم له کونډو سره وه معاذالله که کوم نفسي غوښتنه وه نوله یوې کونډې سره به یې هم نکاح نه کوله او بل دا چې ام سلمه رضي الله عنها او صفیه رضي الله عنها په ښائست کې تر عائشه صدیقه رضي الله عنها ډیرې ښائسته وې . . په ډیرو نکاح کولو سره د نبي کریم ﷺ هدف یوائې د دین زده کړه وه چې کوم مسائل او احکام چې ترښځو پورې تړاو لري هغه د امهات المؤمنین رضي الله عنهن له لارې دامت ښځوته ورسیږي ازواج مطهرات رضي الله عنهن په حقیقت کې د نبوي مدرسې طالبانې وې په مسجد نبوي کې به نارینه ووته تعلیم ورکول کیدی او په کورکې به امهات المؤمنین رضي الله تعالى عنهن ته ځکه امهات المؤمنین رضي الله عنهن وروسته دامت د ښځو ښوونکې استاذانې وې هرې بي بي د خپل خپل توان موافق علم حاصل کړ مګر عائشه صدیقه رضي الله عنها په علم او تقوی کې تر ټولو مخکې وه وذلک فضل الله یؤتین من یشاء) ځکه تر سیدة النساء فاطمة الزهراء رضي الله عنها او ام المؤمنین خدیجة الکبری رضي الله عنها وروسته په ټولو ښځو کې عائشه صدیقه رضي الله عنها تر ټولو غوره منل سوې ده

خلاصه د خبرې !

الله تعالى ډیر ښه خویونه او ښه صفتونه د عائشه رضي الله عنها په فطرت کې ایښي وو او بیا یې خپل پیغمبر ﷺ ته حکم وکی چې عائشه رضي الله عنها په نکاح کړه د دې لپاره چې له وړوکوالي څخه د دې پالنه وسي او د دې له فطري خویو او ښو صفتو او د دې له علم او غوره والي څخه د دنیا ټول خلک ګټه لاس ته راوړي نو هم داسې وسوویل کیږي چې مشران صحابه کرام رضي الله عنهم لکه عمر فاروق رضي الله عنه عبدالله بن عمر رضي الله عنه او ابوهریرة رضي الله عنه او ابوموسی اشعری رضي الله عنه او عبدالله بن عباس رضي الله عنه او داسې نورو له دې روایت کړې دی مشران تابعین لکه سعید بن مسیب ، عمرو بن میمون ، علقمه بن قیس ، مسروق ، عبدالله بن حکیم ، اسود بن یزید ، ابوسلمة بن عبدالرحمن او یو شمیر نور و د دې شاګردان دی آیا له دې حالاتو او پیښو وروسته هم یو طاعن او منافق ته د دې خبرې ځای شته چې معاذالله د انکاح د نفسي غوښتنې په وجه سوې ده د نفس غوښتنه نه بلکې د الله جل جلاله په حکم او اسماني وحې سره سوې ده . .

د عائشه صدیقه رضي الله تعالى مناقب !

(**لومړی**) عائشه صدیقه رضي الله عنها روایت کوي چې یوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل یا عائش رضي الله عنها دا جبرئیل عليه السلام دې پرتا سلام وایي ماورته وویل وعلیه السلام ورحمة الله وبرکاته او ومې ویل یا رسول الله ﷺ ته یې وینې او زه یې نه وینم

سیف لودین کتابتون

(دويم) ابوموسى اشعرى ﷛ روايت كوى چې رسول الله ﷺ وفرمايل نارينه ډيرلوړدرجواوكمال ته رسيدلى دى مګر له ښځوڅخه پرته له مريم بنت عمران اوآسيه دفرعون ښځه بله هيڅ ښځه كمال ته نه دى رسيدلى اودعائشى ﷞ غوره والى پرنوروښځوداسى دى لكه دماتى ډوډۍ غوره والى په ټول خوراک باندى دادواړه حديثونه امام بخارى په كتاب المناقب باب فضل عائشه ﷞ كې ذكر كړى دى

(دريم) عائشه صديقه ﷞ وايې چې څو خويونه ماته دالله ﷻ له لورى راكول سوى دى له مريم پرته بل هيڅ ښځې ته نه دى وركول سوى اوقسم په الله ﷻ زه دفخرپه ډول نه وايم بلكې دالله ﷻ دنعمت ښكاره كول مې مقصوددى هغه خويونه دادى

(۱) نبى كريم ﷺ له ماپرته له بلى پيغلى سره نكاح نه ده كړې

(۲) ترنكاح مخكې جبرئيل ﷤ زماعكس راوړى وو اونبى كريم ﷺ ته يې ښودلى وو چې داستابى بى ده دالله ﷻ حكم دى چې ته به له دې سره نكاح كوى

(۳) كوم سړى چې نبى كريم ﷺ ترټولو خلكو مينه ورسره دلوده زه دهغه لوريم

(۴) له اسمان څخه زمادپاكۍ اوبرائت ډير آيتونه نازل سوى دى اوزه طيبه پاكه پيداسوى يم اودطيب اوپاک سره يم اوالله ﷻ له ماسره دبخښنى اوعزتمندرزق وعده كړې ده

(۵) ماجبرئيل ﷤ ليدلى دى اوله ماپرته دنبى كريم ﷺ نوروبيبيانويوى هم جبرئيل ﷤ نه دى ليدلى

(۶) جبرئيل ﷤ به نبى كريم ﷺ ته وحى راوړه اوزه به دنبى كريم ﷺ به بستره كى وم اوله ماپرته بل چيرى داسى وحى نه ده نازله سوى

(۷) زما نوبت دوې ورځې اودوې شپې وو اودنوروبيبيانو نوبت يوه ورځ اويوه شپه وو، يوه ورځ اويوه شپه خودعائشه ﷞ خپل نوبت وو اودويمه ورځ دسوده ﷞ نوبت وو چې هغې دسپين سرتوب له كبله عائشه ﷞ ته خپل نوبت سپارلى وو

(۸) دنبى كريم ﷺ دوفات په وخت كې دنبى كريم ﷺ سرمبارک زماپه غيږ كى وو

(۹) دوفات څخه وروسته نبى كريم ﷺ زماپه حجره كې ښخ سو (رواه ابويعلى والبزار باختصار وفيه مجالد وهوحسن الحديث وبقيت رجاله رجال الصحيح (۱)

څلورمه بى بى ام المؤمنين حفصه بنت عمرفاروق رضى الله تعالى عنها وعن ابيها!

حفصه ﷞ دعمربن الخطاب ﷛ لورده دمورنوم يې زينب بنت مظعون ﷞ ده حفصه ﷞ دنبى كريم دنبوت څخه پنځه كاله مخكې پيداسوى ده هغه وخت چې قريش دكعبى شريف دخونى په جوړلوبوخت وو لومړنى نكاح يې له خنيس بن حذافه سهمى ﷛ سره وسوه دې

(۱) مجمع الزوائد جلد ۹ /ص/ ۲۴۱)

سیف لودین کتابتون

له خپل ميړه خنيس ؓ سره مدينې منورې ته هجرت وکړ دبدر له غزا وروسته خنيس ؓ وفات سو (۱) کله چې حفصه ؓ کونډه سوه نو عمر فاروق ؓ راغلی عثمان غنی ؓ ته يې وويل چې که ستا خوښه وي نو زما له لور حفصه ؓ سره واده وکړه عثمان ؓ وويل چې زه به په دې خبره کې لږ فکر وکړم وروسته بيا عثمان غنی ؓ عذر وغوښتی چې زما اراده نسته عمر فاروق ؓ وايې چې زه بيا راغلم ابوبکر صديق ؓ ته مې يادونه وکړه چې که ته غواړې زما له لور حفصه ؓ سره نکاح وکړه خو هغه هيڅ هم راته ونه ويل زه ډير خفه سوم درې ياڅلور ورځې تيرې سوې رسول الله ﷺ دخپل ځان لپاره دنکاح پيغام راوليږی ما د حفصه ؓ نکاح له رسول الله ﷺ سره وکړه وروسته مې ابوبکر صديق ؓ وليدی ابوبکر صديق ؓ راته وويل اې عمر ؓ کيدای سې چې ته به له ماخفه سوی يې ماځکه ځواب درنه کړ زه په دې خبروم چې رسول الله ﷺ غواړې دخپل ځان لپاره حفصه ؓ په نکاح کې ځکه ما هيڅ هم ونه ويل او د رسول الله ﷺ راز ښکاره کول مناسب نه وو که رسول الله ﷺ له حفصه ؓ سره نکاح نه وه کړې نو ما به خامخا قبوله کړې وه مشهور او راجح قول دادی چې په کال ۳ هجری کې رسول الله ﷺ له حفصې ؓ سره نکاح وکړه (۲)

يوځل رسول الله ﷺ حفصه ؓ ته طلاق ورکی جبرئيل ؑ وحی راوړه (ارجع حفصة فانها صوامة قوامة وانها زوجتك في الجنة) حفصه ؓ ته بيرته رجوع وکړه ځکه هغه ډيره روژه نيونکې او ډيره عبادت کونکې ښځه ده او په جنت کې به ستا بي بي وي ،رسول الله ﷺ بيرته رجوع ورته وکړه (اخرجه ابن سعد والطبراني برجال الصحيح من مرسل قيس بن سعد)

په کال ۴۵ پنځه څلويښت هجری دبرات مياشت کې په مدينه منوره کې وفات سوه دمعاويه ؓ دخلافت په وخت کې مروان بن حکم دجنازې لمونځ پر کړی دی دوفات په وخت کې دشپيتو کالو په عمر وه دوفات په تاريخ کې اختلاف دی موږ هغه مشهور قول را اخيستی دی دتفصيل لپاره ترجمه حفصه ؓ زرقانی ته رجوع وکړې (۳)

پنځمه ام المؤمنين زينب بنت خزيمه چې دام المساکين په لقب مشهور وه ؓ

ددې نوم زينب ؓ وو دډيرې سخا او له بيوزله خلکو سره دمرستې له کبله دجاهليت په وخت کې په ام المساکين دمسکينانو په مور سره مشوره وه دپلار نوم يې خزيمة بن الحارث هلالي وو لومړنی نکاح يې له عبدالله بن جحش ؓ سره سوې ده په کال دريم ۳ هجری کې عبدالله بن جحش ؓ داحد په غزا کې شهيد سو دعدې له تيريدو وروسته رسول الله ﷺ په نکاح کړه پنځه سوه درهم ولورېې ورکې له نکاح درې مياشتې وروسته وفات سوه رسول

(۱) زرقانی جلد ۳ /ص / ۳۶۶)
(۲) الاصابه جلد ۴ /ص / ۲۵۳)
(۳) زرقانی جلد ۳ /ص / ۳۳۸)

سیف لودین کتابتون

ﷺ الله په خپله دجنازې لمونځ پروکي اوپه جنة البقيع کې خاورته وسپارل سوه دوفات په وخت کې ددې عمر ۳۰ کاله وو (۱)

شپږمه بي بي ام المؤمنين ام سلمه بنت ابى اميه رضى الله تعالى عنها !

ددې نوم هنده ﷺ اوپه ام سلمه سره مشهوره وه دپلار نوم يې ابواُميه قرشى مخزومى وو دمورنوم يې عاتکه بنت عمربن ربيعه وو لومړنې نکاح يې دخپل اکاله زوى ابوسلمة بن عبدالاسد مخزومى ﷺ سره وسوه له ده سره يوځاى په اسلام مشرف سوه اوله نوموړى سره يې حبشه ته هجرت وکي اوله هغه ځايه بيرته مدينى راغله چې ددې تفصيلى قصه دهجرت په بيان کې تيره سوى ده ابوسلمه ﷺ دبدر او احدپه غزاووکې ګډون کړى دى داحدپه غزاکې په مټ باندى ټپى سو تريوى مياشت يې دټپ درملنه وکړه ټپ يې ښه سو دمحرم دمياشتى په پيل کې په کال ۴ څلورم هجرى کې رسول الله ﷺ ابوسلمه ﷺ ديوى سريه اميروټاکى اووې ليږي ۲۹ نه ويشت ورځي وروسته راستون سو اوله راستنيدو وروسته يې هغه ټپ بيرته خراب سو اوله همدى ټپ څخه دهجرت په څلورم کال دڅلورمى خورپه اتمه شهيدسو (۲)

ام سلمه ﷺ وايې چې يوه ورځ زمامېړه کورته راغلى اووې ويل چې نن ماله رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يوحديث واوريدى چې هغه زماپه نزد تردنيا اوڅه چې په دنياکې تردى ټولوغوره دى هغه داچې چاته که يوغم ورسيږى اوهغه اناالله ووايې او وروسته بيادادعاووايې (اللهم عندک احتسب مصيبتى هَذِه اللهُمَّ اخلفنى فيها بخير منها) اې الله زه تاته په خپل دې غم اومصيبت کې اميدلرم اې الله ﷻ ته ماته ددې ښه بدله راکړې ،،،نوالله تعالى به خامخاودې سړى ترهغه تللى شئ غوره څه ورکوى (رواه مسلم والترمذى وابوداؤد والنسائى)

ام سلمه ﷺ وايې چې دسلمه دپلارله مرګ وروسته ماته داحديث رايادسو کله چې مې ددعاويلونيت وکى نوپه زړه کې مى دافکرپيداسو چې ترابوسلمه ﷺ غوره څوک سته خوڅنګه چې درسول الله ﷺ خبره وه ځکه مې دادعاوغوښتله اوددې دعادانتيجه سوه چې دعدى له تيريدو وروسته ماته رسول الله ﷺ دنکاح پيغام راوليږى چې ترده په ټوله نړۍ کې غوره هيڅوک هم نسته (۳)

رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کله وام سلمه ﷺ ته دنکاح پيغام وليږى نودى څه عذرونه وړاندى کړل

(۱) زماعمرزيات دى

(۲) زه عيالداره يم اوواړه يتيمان له ماسره دى

(۳) زه ډيره احساساتى يم هسى نه چې زماله ژبى ناوړه خبره ووزى ؟

---

(۱) زرقانى جلد ۳ /ص/ ۲۴۹)

(۲) عيون الاثرجلد ۲ /ص/ ۳۰۳) (۳) الاصابه جلد ۲ /ص/ ۳۳۵)

سیف لودین کتابتون

نبی کریم ﷺ ځواب ورولیږی چی زما عمر ستا تر عمر زیات دی ستا اولادونه د الله ﷻ او دهغه د رسول صلی الله عیال دی اوزه له الله ﷻ څخه دُعا غواړم چی هغه نازک مزاج او دشک ماده کومه چی ته ځینی ویریږی هغه به له تالیری سی کله چی نبی کریم ﷺ دعا وغوښته هم هغسی سو (عیون الاثر جلد ۲ /ص /۳۰۴ ترجمه هنده بنت ابی امی رضی الله عنها)

د هجرت په څلورم ۴ کال د کوچنی اختر په میاشت کی یې له نبی کریم ﷺ سره نکاح وسوه خود کوچنی اختر د میاشتی څو ورځي لا پاته وی په مسند بزار کې له انس رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم په ولورکې څه توکی هم ورکړه چی دهغو ارزښت لس درهم وو ،، ابن اسحق وایې چی یوه بستره یې هم ورکړه چی د پنبه وو پرځای د خورماله پاڼو ډکه سوی وه اویوه کاسه اویوه پیاله اویوه داوړو میچنه یې هم ورکړه (۱)

دام سلمه رضی الله تعالی عنها وفات !

د وفات په کال کې ډیر اختلاف دی امام بخاری په تاریخ کبیر کې ویلی دی چی په کال ۵۸ اته پنځوس هجری کې وفات سوی ده واقدی وایې چی په کال ۵۹ نه پنځوس هجری کې وفات سوی ده (۲) ابن حبان وایې چی په کال ۶۱ یو شپیته هجری کې وفات سوی ده کله چی دامام حسن رضی الله عنه د شهادت خبر مدینی ته راورسیدی ابونعیم وایې په کال ۶۲ دوو شپیته هجری کې وفات سوی ده حافظ عسقلانی په اصابه او تقریب کې دا قول راجح ګرزولی دی د نبی کریم ﷺ په بی بیانو کې تر ټولو وروسته ام سلمه رضی الله عنها وفات سوی ده (اصابه ترجمه ام سلمه رضی الله عنها (۳) ابوهریرة رضی الله عنه پر دی د جنازی لمونځ کړی دی د وفات په وخت کې د ۸۴ څلوراتیا کالو وه (اصابه (۴) ترجمه هنده بنت ابی امیه .

د لومړنی خاوند دوو زامنو عمر رضی الله عنه او سلمه رضی الله عنه او عبدالله بن عبدالله بن ابی امیه او عبدالله بن وهب بن زمعة رضی الله عنهم قبر ته کښته کړه او په جنت البقیع کې خاورته وسپارل سوه رضی الله تعالی عنها ورحمة الله علیها (استیعاب ترجمه هنده بر حاشیه اصابه)

دام سلمه رضی الله تعالی عنها فضائل او کمالات !

دام المؤمنین ام سلمة رضی الله عنها فضل او کمال او ښائست او جمال پوهه او زیراکت عقل او علم منل سوی دی په حدیبیه کې رسول الله ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم ته د قربانی کولو او سرخریولو حکم درې ځله وکې مګر هیچانه قربانی حلاله و کړه اونه یې سروخروی نبی کریم ﷺ ډیر خفه سو او خپلی خیمی ته راغلی ام سلمه رضی الله عنها ته پېښه بیان کړه ام سلمه رضی الله عنها ورته وویل یارسول الله ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم ډیر غمجن دی ته وهیچاته هم څه مه وایه ته دباندی

---

(۱) زرقانی جلد ۳ /ص /۳۴۱)
(۲) عیون الاثر جلد ۲ /ص /۳۰۴)
(۳) زرقانی جلد ۳ /ص /۲۴۱)
(۴) اصابه جلد ۴ /ص /۴۵۹، زرقانی جلد ۳ /ص /۲۴۲)

سیف لودین کتابتون

ووزه او خپله قرباني په خپله حلاله کړه سروخروه نبي کريم ﷺ چې کله خپله قرباني حلاله کړه نوصحابه کرام ﷺ ټولو هم سمدستي خپلې څاروې حلال کړه اوسرونه يې وخرول داستونزه دام المؤمنين ام سلمه ﷺ په رايه اومشوره سره حل سوه (فجزاها الله خيراً) يوه بي بي وايي چې ام سلمه ﷺ دومره ښائسته وه چې کله رسول الله ﷺ په نکاح کړه نومادهغې په ښائست کې له دې سره غبطه وکړه (۱)

اوومه بي بي ام المؤمنين زينب بنت جحش رضي الله تعالى عنها !

زينب بنت جحش ﷺ درسول الله ﷺ دعمه اُمَيمَه (۲) بنت عبدالمطلب لوروه دنبي کريم ﷺ ترنکاح مخکې دنبي کريم ﷺ متبنّى اوآزادسوى مريئ زيدبن حارثه ﷺ په نکاح کړه دکورنۍ اختلاف له کبله زيد ﷺ ودې ته طلاق ورکي زيد ﷺ خوله مريانوڅخه وو اوزينب بنت جحش ﷺ له ډيرى عزتمندى اوشريف کورنۍ څخه وه اودرسول الله ﷺ دعمه لوروه اودعربودارواج وو چې د ازادسوى مريانوسره به يې نکاح کول دځان لپاره شرم ګڼى ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کله زينب ﷺ ته دآزادسوى مريئ زيدبن حارثه ﷺ دنکاح پيغام وليږى نوزينب ﷺ اوددې ورور انکاروکي په دې هکله داآيت نازل سو :

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا﴾ (۳۶آيت سورة الاحزاب) په دې آيت کې له مؤمن څخه عبدالله بن جحش ﷺ يعنى دزينب ﷺ ورور مراددى اوله مؤمنة څخه زينب ﷺ مراددى اومقصدداوو چې دمؤمن سړى اومؤمن ښځى لپاره دانه دى روا چې کله الله ﷻ اودهغه درسول ﷺ پريکړه وکړى نوهغه ونه منى اونه سى په راضى ددې آيت له نازليدو وروسته دوئ دواړوومنله اوراضى سو اودالله ﷻ دحکم په عملى کولوسره دزينب ﷺ نکاح له زيدبن حارثه ﷺ سره وسوه نکاح خووسوه مګر زيد ﷺ دزينب ﷺ په نظرسپک اوخواروړتلى ځکه به په کورکې هره ورځ جنګ جګړى وى اوددوئ طبيعت نه سره برابريدى زيد ﷺ به تل ونبى کريم ﷺ دزينب ﷺ دبې پروايې شکايت کوى اوويل به يې چې زه زينب ﷺ ته طلاق ورکوم مګر نبى کريم ﷺ به په واروزيد ﷺ له طلاق ورکولومنع کوى ورته ويل به يې چې زماکورنۍ زماپه خاطر داخبره ومنله که ته داکاروکوى نوزه په خپله کورنۍ کې شرميږم کله چې به بياشخړى اولانجى منځ ته راغلى نونبى کريم ﷺ په زړه کې دافکروکي چې که زيد ﷺ زينب ﷺ ته طلاق ورکړى نودزينب ﷺ دزړه دخوشالۍ پرته له دى چې زه خپله نکاح ورسره ونکړم بل ډول نه راځى مګر دناپوهانو اومنافقينو له تهمت ويريدى چې خلک به

(۱) الاصابه جلد ۴ /ص/ ۴۵۹)

(۲) اميمه بنت عبدالمطلب ددې په اسلام راوړلوکې اختلاف دى له ابن سعدپرته بل هيچادې اسلام راوړل نه دى ثابت کړى محمدبن اسحاق داميمه له اسلام راوړلومنکردى لکه چې په اصابه جلد۲ /ص/ ۲۴۲ترجمه اميمه اوزرقانى جلد ۳ /ص/ ۲۴۵)

سیف لودین کتابتون

وايې چې دخپل متبنّی ښځه يې په کورکې وساتله يعنی له هغې سره يې نکاح وکړه اوسره له دی چې متبنّی په هيڅ طريقه دزوی په حکم کې نه دی اوپه عربوکې داډيربدرواج اېښودل سوی وو چې چابه وپردی سړی ته په ژبه باندی زوی وويل اوهغه پردئ سړی به يې دځان زوی وګرزوی نودهغه پردی سړی له طلاق سوی ښځي به سره يې نکاح نه کوله اوډيرشرم اوپيغوربه يې ګڼی الله تعالی غوښتل چې دابدرواج درسول الله صلی الله عليه وسلم په عمل اوکارسره پای ته ورسوی نبی کريم ﷺ ته وحی وسوه چې دزيدؓ له طلاق ورکولو وروسته به زينبؓ ستاپه نکاح کې راځی ددې لپاره چې خلکوته معلومه سی چې داصلی زوی اودهغه زوی چې زوی ورته ويلی وی حکم سره بيل سی دخپل اصلی زوی له ښځي سره نکاح حرام ده نه دهغه چاله ښځی سره چې چاپه زوی والی ورته ويلی وی لنډه داچې نبی کريم ﷺ ته دوحی په ذريعه داخبرورسيدی چې دزينبؓ نکاح به ستاسره کيږی مګر رسول الله ﷺ دمنافقينو د طعن اوبدويلوله ويری چې دوئ به په مابدووايې چې دهغه چاله ښځی سره يې نکاح وکړه چې نبی کريم ﷺ زوی ورته ويلی دی دشرم له کبله يې داخبره هيچاته ښکاره نه کړه بلکې داخبره يې پټه په زړه کې وساتله اوفکر يې وکی چې دالله ﷻ خبره بيخی حق اوربښتينی ده په خپل وخت کې به په خپله راښکاره سی اوبل داچې دالله ﷻ له لوری څخه اوس دستی ددې خبری دښکاره کولوحکم هم نه ووسوی ځکه نبی کريم ﷺ داتکوينی امرپه زړه کې پټ وساتی اوپه تشريعی ډول يې زيدؓ ته دامشوره ورکوله چې زينبؓ ته طلاق مه ورکوه ځکه دشريعت حکم دادی چې ميړه ته بايدمشوره ورکول سی چې خپلې ښځي ته طلاق مه ورکوه اودښځي په بې پروايې باندی صبروکړه که يوچاته دوحی ياالهام له لاری دامعلومه سی چې په تقديرکې داپيښه راتلونکي ده نواوس دستی په همدې حالت کې دشريعت دحکم اتباع کول لازمی دی ځکه دتقديرپريکړه پرخپل وخت په خپله ښکاره کيږی ..

لنډه داچې يوه ورځ زيدؓ راغلی اونبی کريم ﷺ ته يې وويل يارسول الله ﷺ زه ډير په تکليف سوم اوزينبؓ ته مې طلاق ورکړ رسول الله ﷺ هيڅ هم ونه ويل ،، له انسؓ څخه روايت سوی دی چې کله دزينبؓ عده تيره سوه نورسول الله ﷺ زيدؓ ته وويل چې ته په خپله ولاړسه اوزينبؓ ته زماله لوری دنکاح پيغام وروړه ددې لپاره چې داخبره ښه روښانه سی چې دانکاح دزيدؓ په خوښه سوی ده زيدؓ دنبی کريم ﷺ له پيغام سره دزينبؓ کورته ولاړی اوله دروازی سره ودريدی که څه هم په دغه وخت کې لادستر کولوحکم نه وونازل سوی خودادزيدؓ پرهيزګاری وه (۱) اووې ويل اې زينبؓ

(۱) په يو روايت کې راغلی دی چې نبی کريم ﷺ زيدؓ ته وفرمايل چې زه په خپل زړه کې ترتادير دباورڅوک نه وينم نوځکه ته زينبؓ ته زماسره دواده کولوپيغام ورسوه ، زرقانی جلد ۳ /ص/ ۲۴۵)

سیف لودین کتابتون

زه رسول اللهﷺ د نکاح له پیغام سره را لیږلی یم زینب ؓ ځواب ورکړ چې زه تر هغه وخته څه نه سم ویلای ترڅو چې زه له خپل رب ﷻ سره مشوره یعنی استخاره ونه کړم سمدستي ولاړه سوه او په کور کې چې کوم ځای دې د عبادت لپاره ځانګړی کړی وو هغه ځای ته ولاړه او په استخاره مشغول سوه څنګه چې زینب ؓ په دې هکله له هیچا سره مشوره ونه کړه بلکې د الله ﷻ مشوره یې وغوښته او له الله ﷻ څخه یې د خیر غوښتنه وکړه څکه الله ﷻ د مؤمنانو دوست او ولی دی په همدې وجه الله تعالی په خپل خاص تصرف سره په اسمان کې د ملائکه علیهم السلام په شتون کې د زینب ؓ نکاح له رسول اللهﷺ سره وتړله په اسمان کې خو اعلان وسو د اسمان مخلوق خو په دې خبر سو خو په ځمکه کې لا څوک نه وو خبر چې جبرئیل علیه السلام راغلی او دا آیت یې د الله ﷻ له لوري څخه راوړی:

فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا (سورة الاحزاب آیت ۳۷)

کله چې زید ؓ له زینب ؓ څخه حاجت پوره کې او هغې ته یې طلاق ورکي نو اې نبی کریم ﷺ مونږ د زینب ؓ نکاح ستا سره وتړله..

د دې آیت تر نازلیدو وروسته رسول اللهﷺ سمدستي د زینب ؓ کور ته ولاړی او پرته له اجازې یکور ته داخل سو (رواه مسلم واحمد والنسائی فتح الباری جلد ۸ /ص / ۴۰۰ کتاب التفسیر باب قوله تعالیٰ (وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللهُ اَحَقُّ اَن تَخْشَاهُ (۳۷ آیت سورة الاحزاب زرقانی جلد ۳ /ص / ۲۴۵)

په یو روایت کې راغلی دی چې رسول اللهﷺ د عائشه صدیقه ؓ په کور کې ناست وو چې دا آیتونه نازل سوه کله چې وحی پوره سوه نو نبی کریم ﷺ په شنداونکې وخندل او زمونږ خواته یې مخ واړوی او وې فرمایل څوک به ولاړسی او زینب ؓ ته به زیری ورکړی ﴿وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ ۳۷ آیت سورة الاحزاب) تر پایه پوری دا آیتونه نبی کریم ﷺ مونږ ته تلاوت کړه ،

عائشه صدیقه ؓ وایې چې کله نبی کریم ﷺ دا آیتونه تلاوت کړه نو زما فکر دا سو چې زینب ؓ خو ښائسته هم ده او س به هغه په دې هم فخر کوی چې زما نکاح الله تعالی په اسمان کې کړی وه (۱)

له دې روایت څخه معلومیږی چې رسول اللهﷺ د زینب ؓ کورته تر تلو مخکې دا ستازی په لاس زینب ؓ ته زیری لیږلی وو چې الله تعالی ستا د نکاح په اړه آیتونه نازل کړی دی کله چې زینب ؓ خبره سوه سمدستي یې د شکر سجده وکړه (کما رواه ابن سعد عن ابن عباس ؓ بسند ضعیف (۲)

(۱) الاصابه جلد ۴ /ص / ۳۱۳) ——— (۲) الاصابه جلد ۴ /ص / ۳۱۳)

سیف لودین کتابتون

زینب رضي الله عنها دوحی د حکم په هکله خبره سوه ددې خبر څخه وروسته څکه رسول الله ﷺ ددې کورته پرته له اجازې داخل سو څکه (زَوَّجْنَاكَهَا) داسمانی نکاح دااعلان او دنبی کریم ﷺ دخبر څخه وروسته قولاً او عملاً هغه قبلول او سجده دشکر کول او دنکاح پیغام دزید رضي الله عنه په لاس مخکې لیږل دادرسمی نکاح څخه ډیره غوره نکاح ده کورته تر داخلیدو وروسته رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چی ستا اصلی نوم څه دی دزینب رضي الله عنها اصلی نوم بَرّه وه دې وویل چی زمانوم بره دی نبی کریم ﷺ دبره پرځای دزینب رضي الله عنها نوم پرکیښودی (استیعاب لابن عبدالبر ترجمه زینب بنت جحش رضي الله عنها)

له دې پیښې وروسته منافقینو دبدی ژبی راوایستی اووې ویل چی پیغمبر علیه السلام خو داوایې چی دزامنو له ښځوسره نکاح حرام ده خوده په خپله دهغه چاله ښځی سره نکاح وکړه چی ده په زوی والی نیولی دی الله تعالی ددې منافقینو او مفسیدونو په ځواب کې وفرمایل ﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا﴾ (۴۰ آیت سورة الاحزاب) ژباړه: محمد صلی الله علیه وسلم ستاسو دنارینه و څخه دهیچا پلار نه دی دهغه هیڅ زوی نسته مګر هغه دالله ﷻ رسول ﷺ دی او په دې نظرسره هغه دټول امت روحانی پلاردی او ټول دده مبارک ﷺ روحانی زامن دی او دی مبارک ﷺ آخری نبی علیه السلام دی او الله ﷻ په هرشئ ښه خبردی..

دزینب رضي الله عنها قصه دمحققینو په نظرداسی ده لکه څنګه چی موږ ته درته بیان کړه او داسلام دښمنانو اوبی دینه خلکو دامشوره کړی ده چی نبی کریم ﷺ چی کله زینب رضي الله عنها ولیده نوززړه یې هغې ته مائل سو اودایې وفرمایل سبحان الله مقلب القلوب) اوله (وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيهِ) څخه یې په زړه کې دزینب رضي الله عنها مینه پټول مراد کړی دی نوداخبره دمنافقینو دروغ او افتراء دی مومنان هیڅ وخت په دې باندی یقین نه لری داقصه دملحدینو اوبی دینانو دروغ او افتراء ده اوددې هیڅ بنسټ نسته جمهورو مفسرینو ددې قصی بیان کړی دی چی داله ځان جوړسوی دروغ او افتراء اونفاق دی داهیڅ اصل اوبنسټ نه لری اوبل داچی داعقل هم خلاف ده څکه زینب رضي الله عنها دنبی کریم ﷺ دعمه لوروه له کوچینوالی څخه نبی کریم ﷺ لیده اوډیرځله نبی کریم ﷺ لیدلی وه له نبی کریم ﷺ څخه یې سترهم نه کوی اونه تردغه وخت دستریا حجاب حکم نازل سوی وو اوزینب رضي الله عنها به له واده وروسته هم دنبی کریم ﷺ څخه سترنه کوی نبی کریم ﷺ ته به راتله نوآیانبی کریم ﷺ زینب رضي الله عنها دزید رضي الله عنه له نکاح وروسته اول ځل ولیده اوتردی مخکې یې هیڅلکه نه وه لیدلی اوبل داچی که دنبی کریم ﷺ ددې ښائست خوښ وو نولومړی ځل یې ولی زید رضي الله عنه ته په نکاح کړه سره له دې چی نه ددې خوښه وه اونه یې دخپلوانو خودرسول الله ﷺ په حکم سره دوئ داخبره ومنله چی له

سيف لودين كتابتون

زید ﷺ دې زینب ؓ نکاح وکړی نبی کریم ﷺ اول ولی له دې سره نکاح نه کوله د زینب ؓ خپلوانو له نبی کریم ﷺ سره ددې نکاح په ډیره خوشالی اومینه ومنله ..

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دسترګو مبارکو پاکوالی !

په عقل او نقل سره دا خبره یقینی ثابته ده چی دالله ﷻ نبی ﷺ معصوم وی دهغه کتل پاک او پاکو نکي وی دمکی مکرمی دفتح په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم دڅو کسانو وینه مباح وګرزوله او وې فرمایل چی که داخلک دکعبې شریف پوښ هم ونیسی نو مه یې پریږدی او وې وژنی له دې خلکو څخه عبدالله بن سعد بن ابی سرح هم وو عثمان غنی ؓ هغه لاس نیولی راوستی او دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو په وار وار یې له نبی کریم ﷺ څخه غوښتنه وکړه چی ته له عبدالله بن سعد بن ابی سرح سره بیعت وکړه یعنی دده ګناه وبخښه رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ ونه ویل له ډیره ټینګاره وروسته یې بیعت ورسره وکي وروسته یې دمجلس ناستو صحابه کرام ؓ ته وفرمایل چی ماځکه ځنډ وکی چی له تاسو به څوک ولاړ سی او دعبدالله سر به غوڅ کړی یو انصاری ؓ وویل یا رسول الله ﷺ تا په سترګو ولی موږ ته اشاره ونه کړه ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل (ماکان لنبی ان یکون له خائنة الاعین) یعنی دنبی ﷺ لپاره دامناسب نه دی چی دهغه له سترګو څخه کوم خیانت ښکاره سی کما قال الله تعالی ﴿يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ﴾ (۱۹ آیت سورة غافر) له دې معلومه سوه چی دنبی ﷺ سترګې له خیانته پاکی دی لکه څنګه چی دالله ﷻ نبی دالله ﷻ له لوری معصوم وی دغه رنګه دده سترګی هم معصومی وی او بل دا چی الله تعالی فرمایې ﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ﴾ (۳۰ آیت سورة النور) له دې هم معلومیږی چی غضی بصر یعنی دناروا شیانو ته په لیدلو سره سترګی کښته اچول دایمان له غوښتنو څخه دی او نبی کریم ﷺ اول المؤمنین دی ﷺ لکه څنګه چی دټولی نړی ایمان د رسول الله صلی الله علیه وسلم دایمان یوه کوچنۍ نمونه او عکس دی ، دغه رنګه دټولی دنیا دکتلو عفت او حیاء دنبی کریم ﷺ دپاک ذات دپاکو کتلو یوه کوچنۍ نمونه او عکس دی او بل دا چی نبی کریم ﷺ له نفسی خواهشاتو څخه پاک دی او هغه شیطان چی له هرشخص سره وی هغه دنبی کریم ﷺ تابع او مسخر وو او جبراً او قهراً مسلمان یعنی دنبی کریم ﷺ تابعدار جوړ سوی وو پرته له خیره یې بلی خواته میلان نه کوی ..

سیف لودین کتابتون

په لاندی آیت کې له پټید لو څخه کوم پټیدل مراددی !

(وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشَاهُ (۳۷ آیت سورة الاحزاب)

زموږ په دې بیان سره دا خبره ښه روښانه سوه چی د منافقینو دا خبره چی له (وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيهِ) څخه د زینب رضی الله عنها محبت په زړه کې پټول مراددی دا بیخی غلطه او له سره ترپایه دروغ او افتراء دی بلکې صحی معنی یې داسی دی چی الله تعالی نبی کریم ﷺ ته د وحی په ذریعه وویل چی د زید رضی الله عنه له طلاق ورکولو وروسته به زینب رضی الله عنها ستا په نکاح کې راځی. نو کوم شئ چی نبی کریم ﷺ په زړه کې پټوی هغه په راتلونکي کې همدا د نکاح خبرو چی وروسته بیا الله تعالی په (زَوَّجْنَاكَهَا) سره بیان کې او د (وَتَخْشَى النَّاسَ) معنی داسی دی چی ته د هغې خبری په ښکاره کولو باندی شرمیدلی چی زید ته ووایې چی خپلی ښځی ته طلاق ورکړه له خشیت څخه مراد شرمیدل دی یا هیره ده او ویره بیا د دې خبری وه چی منافقین به ستا په هکله خبری وکړی یا به خلک بدګمانی وکړی او خپل آخرت به خراب کړی او د دې آیت دا معنی امام زین العابدین اسدی څخه روایت سوی ده او حکیم او ترمذی د دې روایت په تحسین کې اوږدی خبری کړی دی او حافظ عسقلانی (۱) دا معنی په فتح الباری د سورة الاحزاب په تفسیر کې غوره کړی ده..

---

(۱) اصل عبارت داسی دی د علماء لپاره وړاندی کیږی :

وقد اخرج ابن ابی حاتم هذه القصة من طریق السدی فساقها سیاقا واضحا ولفظه بلغنا ان هذه الایة نزلت فی زینب بنت حجش رضی الله عنها وکان رسول الله صلی الله علیه وسلم اراد ان یزوجها زید بن حارثه رضی الله عنه مولاه فکرهت ذلک ثم انها رضیت بما صنع رسول الله صلی الله علیه وسلم فزوجها ایاه . ثم أعلم الله عزوجل نبیه صلی الله علیه وسلم بعد انها من ازواجه فکان یستحی ان یأمر بطلاقها وکان لایزال یکون بین زید رضی الله عنه وزینب رضی الله عنها مایکون من الناس فامره رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یمسک علیه زوجه وان یتقی الله وکان یخشی الناس ان یعیبوا علیه ویقولوا تزوج امرأة ابنه وکان قد تبنی زیدا وعنده من طریق علی بن زید عن علی بن الحسین ابن علی رضی الله عنه قال أعلم الله تعالی نبیه صلی الله علیه وسلم ان زینب رضی الله عنها ستکون من ازواجه قبل ان یتزوجها فلما اتاه زید یشکوها الیه وقال له اتق الله وامسک زوجک قال الله تعالی قد اخبرتک انی مزوجکها وتخفی فی نفسک ما الله مبدیه وقد اطنب الترمذی الحکیم فی تحسین هذه الروایة وقال انها من جواهر العلم المکنون وکان لم یقف علی تفسیر السدی الذی اوردته وهو اوضح سیاقاً واصح اسنادا الیه لضعف علی بن زید بن جدعان (ثم قال الحافظ) ووردت آثار اخری ونقلها کثیر من المفسدین لاینبغی التشاغل بها والذی اورد ددنه منها هو المعتمد والحاصل ان الذی یخفیه النبی صلی الله علیه وسلم هو اخبار الله ایاه انها ستصیر زوجتهُ والذی کان یحمله علی اخفاء ذلک خشیة قول الناس تزوج امرأة ابنه واراد ابطال ما کان اهل الجاهلیة علیه من احکام التبنی بامر لا ابلغ فی الابطال منه وهو تزوج امرأة الذی یدعی ابنا ووقوع ذلک من اما م المسلمین ﷺ لیکون ادعی لقبولهم وانما وقع الخبط فی تاویل متعلق الخشیة والله اعلم

(فتح الباری جلد۸/ص/۳۰۲ تفسیر سورة الاحزاب)

سيف لودين كتابتون

امام قرطبی په خپل تفسیرکې دامام زین العابدن قول داسې رانقل کوی (قال علمائنا رحمة الله علیهم وهذا التفسیر احسن ماقیل فی هذه الایة وهوالذی علیه اهل التحقیق من المفسرین والعلماء الراسخین کالزهری والقاضی بکربن العلاء القشیری والقاضی ابی بکربن العربی وغیرهم الخ تفسیرقرطبی تفسیرسوره احزاب) ژباړه: زموږ علماء وایې چې ددې آیت په تفسیرکې ترټولوغوره قول دادی کوم چې وویل سو اومحققین مفسرین اوعلماء راسخین لکه امام زهری اوقاضی بکربن علاء قشیری اوقاضی ابوبکربن عربی اونورو ټولوعلماؤ هم همدا قول دی کوم چې موږ بیان کی (۱)

دزینب رضی الله تعالی عنها دنکاح تاریخ !

حافظ ابن سیدالناس وایې چې دزینب ﷺ نکاح په کال څلورم ۴ هجری کې له نبی کریم ﷺ سره وسوه اویوشمیرنوربیاوایې چې په کال پنځم ۵ هجری کې وسوه دنکاح په وخت کې دزینب ﷺ عمر ۳۵ پنځه دیرش کاله وو (۲)

دزینب رضی الله تعالی عنها ولوریامهر !

ددې مهرڅلورسوه درهم وټاکل سو (سیرة ابن هشام) ابن اسحق لیکی چې دانکاح دزینب ﷺ ورور ابواحمدبن جحش ﷺ وکړه په ښکاره خوداد تیرسوی حدیث سره ټکر لری خوکیدای سی چې وروسته په ځمکه کې هم نکاح تړل سوی وی والله اعلم)

دزینب رضی الله تعالی عنها دواده ډوډی !

لکه څنګه چې دانکاح الله تعالی په خپل خاص واک سره وکړه اوبیایې ددې نکاح په هکله دقرآن آیتونه نازل کړه په همدې وجه نبی کریم ﷺ ددې نکاح په ولیمه کې خاص اهتمام وکی لکه چې په صحیح بخاری کې له انس ﷺ څخه روایت سوی دی چې رسول الله ﷺ دیوی بی بی په ولیمه کې دومره کوښښ نه دی کړی لکه څومره چې یې دزینب بنت جحش ﷺ په ولیمه کې وکړیوه بزه یې حلاله کړه اوخلک یې راوغوښتل اوخلکوغوښه اوډوډۍ بنه په ماړه نس وخوړه اوولاړل مګر درې تنه کینستل خبری یې کولې نبی کریم ﷺ خود ډیری حیاء په وجه هیڅ هم ونه ویل مګر له مجلس ولاړسو ددې لپاره چې خلک پوه سی اودعائشې صدیقه ﷺ کوټې ته ولاړی عائشه صدیقه ﷺ مبارکی ورکړه وروسته بیادنوروبیبیانوکوټوته هم تشریف یووړی په همدې وخت کې داآیتونه نازل سوه ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنكُمْ وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ﴾ (۵۳ آیت سورة الاحزاب)

(۱) تفسیرقرطبی جلد ۴ /ص/ ۱۹۰) (۲) عیون الاثر جلد ۲ /ص/ ۳۰۴)

سیف لودین کتابتون

ژباړه : اې مؤمنانو دنبي ﷺ کورته مه داخلیږئ مګر کله چې تاسوته اجازه وسي دډوډۍ لپاره په داسې حال کې دهغې دپخيدلو انتظاربه نه کوئ مګر کله چې تاسوراوغوښتل سي چې اوس ډوډۍ تياره سوه نوبياورځئ او کله چې ډوډۍ وخوړل سي نوسره وپاشل سئ ولاړسئ اوپه خبرومه بوختيږئ په دې سره دالله ﷻ نبي ﷺ ته تکليف رسيږي اوهغه په ويلوسره شرميږي اوالله تعالى په حق ويلوسره هيڅ پرده نه کوي اوکه تاسود بيبيانو څخه داړتياکوم شئ غواړئ نود پردې دشاله لوري څخه يې غواړئ په دې کې ستاسودزړو اود دوئ دزړو پاکوالی دی ..

داتيرسوي مضامين اوبيانونه موږ دبخاري اومسلم له ډيرورواياتو څخه رااخيستي دي

دزينب رضی الله تعالى عنها فضائل اومناقب !

زينب ﷺ به نوروبي بيانوته دفخر په ډول ويل چې ستاسونکاح ستاسوخپلوانوکړې ده اوزمانکاح الله ﷻ په اوو اسمانولوړه کړې ده (رواه الترمذي وصححه من حديث انس ﷺ په حقيقت کې دافخرنه بلکې دنعمت ښکاره کول وو له ډيرې خوشالۍ اودنعمت ورکونکي ددې لوی نعمت دښکاره کولولپاره به يې ويل ځکه به نبي کريم ﷺ هم هيڅ نه ويل کله چې به يې داخبره واوريدله .... دشعبي په مرسل روايت کې راغلي دي چې زينب ﷺ به رسول الله ﷺ ته ويل چې يارسول الله ﷺ زه له درې وجهو څخه په تاباندې نازکوم

(۱) لومړې داچې زمااوستانيکه يو دي يعنی عبدالمطلب په يوروايت کې راغلي دي چې زه ستادعمه لوريم ددې اومخکې يوه معنی ده

(۲) الله تعالى زمانکاح ستاسره په آسمان کې کړې ده

(۳) دريم جبرئيل آمين ﷺ په دې هکله راغلی اوتللی دی (۱)

عن عائشه ﷺ انهاقالت کانت زينب بنت جحش ﷺ تساويني فی المنزلة عندرسول الله صلی الله عليه وسلم ومارأيت امرأة قط خيراً فی الدين من زينب ﷺ واتقی الله واصدق حديثاواوصل للرحم واعظم صدقة)

ژباړه : عائشه صديقه ﷺ وايي چې زينب دجحش لور ﷺ به په مرتبه کې زمامقابله کوله درسول الله ﷺ په نزدهغه زماسره برابره وه مادهغې څخه بله ديندار ه ښځه هيڅ کله نده ليدلې اوله الله ﷻ څخه ډيره ويريدونکې اوترټولوډيره رښتياويونکې اوخپلوی کونکي اوډيره خيرات کونکې نه ده ليدلې ..

اودزهري په يوروايت کې راځي (واشدتبذلالنفسهافی العمل الذی تتصدق به وتتقرب به الی الله عزوجل (استيعاب لابن عبدالبرترجمه زينب بنت جحش ﷺ) ژباړه : اونه مې ترهغې ډير زحمت کشه اوخيرات کونکې اوالله ﷻ ته دنږدې والی غوښتونکې بله ښځه نه دی ليدلې ..

(۱) زرقاني جلد ۳ /ص / ۲۴۶)

سیف لودین کتابتون

دزینب بنت جحش رضی الله تعالی عنها تقوی اوپرهیزګاری !

منافقینو چې کله په عائشه صدیقه رضی الله عنها باندې تور پورې کې چې ددې تور پوره بیان مخکې تیر سو نو دزینب رضی الله عنها خور حمنه بنت جحش هم دسادګۍ له کبله په هغه تور کې شریکه سوه مګر کله چې رسول الله ﷺ دعائشه صدیقه رضی الله عنها په اړه له زینب رضی الله عنها څخه پوښتنه وکړه نوزینب بنت جحش رضی الله عنها داسې ځواب ورکې (یارسول الله ﷺ احمی سمعی وبصری والله ماعلمت علیها الاخیراً (رواه البخاری جلد۱/ص/۳۶ کتاب الشهاداة باب تعدیل النساء بعضهن بعضا) ژباړه :یارسول الله ﷺ زه خپل غوږونه اوسترګې خوندی ساتم قسم په الله ﷻ دعائشه صدیقه رضی الله عنها په هکله پرته له خیراونیکۍ په بل څه نه یم خبره ،،، یعنی کوم شئ چې زماسترګونه وې لیدلی اوغوږومې نه وی اوریدلی هغه زه په ژبه نه سم ویلای تراوسه زه ددې په هکله له خیرپرته بل څه نه سم ویلای . دخوهرڅاته معلومه دی چې زینب بنت جحش رضی الله عنها دعائشه صدیقه رضی الله عنها بن وه اوداهم ښکاره خبر ده چې عائشه صدیقه رضی الله عنها نبی کریم ﷺ ته ترټولو محبوبه وه که زینب رضی الله عنها غوښتلای نوپه دغه وخت کې به یې داسې خبری کړی وی چې عائشه صدیقه رضی الله عنها دنبی کریم ﷺ له سترګو ویدلی وای مګر ددې پوره پرهیزګاری اوله الله ﷻ څخه ویره ددې اجازه نه ورکوله چې هیڅ ونه وایې بلکې په قسم اوټینګار سره یې وویل (والله ماعلمتُ علیها الاخیراً) یعنی قسم په الله ﷻ زه خوپه عائشه رضی الله عنها کې له خیراونیکۍ پرته بل څه نه وینم ،، لکه چې په بخاری کې له عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه ددې تقوی اوپرهیزګاری اوله الله ﷻ څخه دویری اقرارپه دې الفاظو یادسوی دی (فعصمها الله بالورع بنت جحش رضی الله عنها) یعنی الله تعالی دپرهیزګاری په وجه زینب بنت جحش رضی الله عنها له دې فتنی څخه خوندی وساتله ،،

اوپه یوروایت کې له عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه داسې الفاظ رانقل سوی دی (۱) وان الله عصمها بالورع) رښتیاهم الله تعالی دپرهیزګاری په برکت سره هغه له دې فتنی خوندی وساتله ..

دزینب بنت جحش رضی الله تعالی عنها عبادت !

دالله ﷻ عبادت یې په یوه ځانګړی خوندکوي په ډیره عاجزی اوخشوع سره به یې عبادت کوي لکه چې مخکې موږوویل چې کله زید رضی الله عنه دنبی کریم ﷺ دنکاح پیغام یووړی نودې سمدستی داستخاری وویل اوپه لمانځه مشغول سوه .

میمونه رضی الله عنها روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ دغنیمت مال په مهاجرینو رضی الله عنهم باندې ویشی په همدې وخت کې یې زینب بنت جحش رضی الله عنها هیره سوه عمر رضی الله عنه ورپاده کړه نبی کریم ﷺ وفرمایل اې عمر رضی الله عنه ته داپریږده یعنی زینب بنت جحش رضی الله عنها یادونه

(۱) زرقانی جلد ۳ /ص/۲۴۷)

سیف لودین کتابتون

مه کوه ځکه (إِنَّهَا أَوَّاهٌ) ربښتیا هم دا ډیره اوّاه دی یوه سړی وویل یا رسول الله ﷺ اوّاه څه معنی ده نبی کریم ﷺ وفرمایل اوّاه معنی عاجزی او خشوع کونکي وروسته یې دا آیت تلاوت کي (إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ) (۱۱۴ آیت سورة التوبه) ربښتیا هم ابراهیم ؑ ډیر صبرناک اونرم زړی او الله ﷻ ته رجوع کونکي وو (رواه ابن عبدالبرو غیره (۱)

یوه ورځ رسول الله ﷺ خپل کورته تشریف راوړی او عمرفاروق ؓ هم له رسول الله ﷺ سره ملګری وو زینب بنت جحش ؓ په لمانځه او دعا مشغوله وه نبی کریم ﷺ وفرمایل (انَّهَا لَأَوَّاهٌ) ربښتیا هم دا ډیره نرم زړې ده (رواه الطبرانی واسناده منقطع وفیه یحی بن عبدالله الباهلی وهوضعیف (۲)

ام المؤمنین ام سلمة ؓ د زینب بنت جحش ؓ په اړه وایي (کانت صالحة صَوَّامةً قَوَّامةً صناعًا تصدق بذلک کله علی المساکین (اصابه ترجمه زینب بنت جحش ؓ) دا ډیره نیکه او ډیره روژې نیونکي او ډیر تهجد کونکي او ډیر کسب کونکي ښځه وه څه چې به یې ګټل ټول به یې په مسکینانو باندی خیراتول

د زینب بنت جحش رضی الله تعالی عنها تقوی او پرهیزګاری !

عمرفاروق ؓ چې کله په لومړی کال د زینب ؓ د کال نفقه ور ولیږله نو ددې دا فکر سو چې دا د ټولو بیبیانو ده داسی یې وفرمایل الله ﷻ دې عمرفاروق ؓ ته بخښنه وکوی زما په فکر هغه په ډیر څه باندی واک درلودی خلکو ورته وویل دا یوازې ستا نفقه ده د ټولو بیبیانو نه ده دې وویل سبحان الله او د خپل ځان او مال په مینځ کې یو ټوکر او پرده واچوله ددې لپاره چې هغه مال ونه وینی ځکه دې ته هغه پردی او نامحرم ښکاریدی او برزه بنت رافع ته یې حکم وکي چې دا مال یوی خواته که او ټوکر پرواچوه وروسته یې وفرمایل چې ددې ټوکر لاندی موټ ډکوه او فلانکی یتیم او کونډې ته یې ورکړه او بیا موټ ډک کړه فلانی یتیم ته یې ورکړه کله چې یې په دې ترتیب سره مال وویشی لږ څه پاته سو نو برزه ورته وویل چې الله تعالی دې تاته بښنه وکړی زموږ خو هم په دې مال کې څه حق شته زینب بنت جحش ؓ وفرمایل ښه کوم مال چې تر دې ټوکر لاندی دی هغه ته واخله برزه ؓ وایې کله چې ما ټوکر پورته کي ورته ومی کتل پنځه اتیا درهم پاته وو کله چې مال ټول وویشل سو نو لاس یې پورته کي او دا دعا یې وغوښته (اللهُمَّ لا یدرکنی عطاء عمر ؓ بعدعامی هذا) ای الله ﷻ تردی کال وروسته د عمرفاروق ؓ مرسته ماته مه رارسوی) کال لا نه وو پوره سوی چې زینب بنت جحش ؓ وفات سوه (رواه ابن سعد وابن الجوزی عن برزة بنت رافع (۳)

(۱) ربښتیا هم دلام د تاکید او حرف تحقیق یعنی ان لفظ ترجمه ده او د اوّاه لفظ تنوین د تعظیم لپاره دی) ——(۲) مجمع الزوائد جلد ۹ /ص/ ۲۴۷) —— (۳) حافظ عسقلانی د برزة بنت رافع ؓ په ترجمه کې دا روایت په تفصیلی سند سره ذکر کړی دی اصابه جلد ۴ /ص/ ۲۵۴ قسم ثالث ترجمه بنت رافع)

سیف لودین کتابتون

په يو بل روايت کې راځي چې زينب ؓ ديوه کال نفقه دولس زره درهمه وه کله چې به هغه دولس زره درهم دبيت المال له خوادې ته راغلونودې به په واروارويل (اللهم لايدركني هذالمال من قابل فانه فتنة (۱) اې الله ﷻ دامال په راتلونکي کال ماته مه رارسوی رښتياهم مال ډيره لويه فتنه ده

داخبره يې وکړه اوپردغه ځای يې ټول مال په خپلوخپلوانواوارو کسانوووېشی عمرفاروق ؓ چې کله خبرسو داسی يې وويل چې داسی ښکاری چې دالله ﷻ له لوری ښخه ودې ته دخيراونيکۍ اراده سوی ده سمدستی يې زردرهم نور وروليږل اوسلام يې ورولیږی چې هغه دوولس زره درهم خوبه ستاخيرات سی اودازردرهم دخپلواړتياوولپاره وساته زينب بنت جحش ؓ هغه زر درهم هم سمدستی وويشل (اصابه ترجمه ام المؤمنين زينب بنت جحش ؓ)

دزينب بنت جحش رضی الله تعالی عنه وفات اومړينه !

په صحيحينو کې له عائشه صديقه ؓ څخه روايت سوی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يوه ورځ خپلوبيبيانوته وفرمايل : چې په تاسو کې به ترټولو مخکې زماسره هغه څوک ژر يوځای کيږی چې ددې لاسونه اوږده وی درسول الله ﷺ اشاره خوسخاوت ته وه مګر بيبيانو ؓ په ظاهرباندی حمل کړه کله چې نبی کريم ﷺ وفات سو نوبيبيانی ؓ به رايوځای سوی اوپه خپل مينځ کې به يې لاسونه سره کتله چې دچالاس اوږده دی زينب بنت جحش ؓ په قدکې وړه وه خوداترټولومخکې وفات سوه نوله دې معلومه سوه چې دزينب بنت جحش ؓ په خيرات ورکولوکې لاسونه اوږده وو ځکه دې په خپل لاس مال ګټی اوبی وزلوته يې په خيرات ورکوی کفن يې هم په ژوندکې دځان لپاره تيارکړی وو له قاسم بن محمد ؓ څخه روايت سوی دی چې کله زينب بنت جحش ؓ دوفات وخت رانژدی سودې و فرمايل چې ماخپل کفن تيارکړی دی کيدای سی عمر ؓ هم ماته کفن راوليږی يو کفن به ماته راکی اودويم به خيرات کي عمرفاروق ؓ ددې لپاره پنځه جامی په عطروخوشبويه کی اودکفن لپاره يې ورولیږلی دعمرفاروق ؓ په راليږل سوی کفن کې دې ته کفن ورکړل سو اوددې خپل کفن چې زينب ؓ ځان ته تيارکړی ووهغه ددې خور حمنه ؓ خيرات کی (اخرجه ابن سعد)

عمره وايې چې کله زينب بنت جحش ؓ وفات سوه نوماله عائشه صديقه ؓ څخه واوريدل (لقدذهبت حميدة متعبدة مفزع اليتامی والارامل)

ژباړه : افسوس نن داسی ښځه له دنياولاړه چې ډيرغوره خويونه يې درلوده اوډيره عبادت کونکي اوديتمانواوکونډودپناه ځای وه

(۱) فتح الباری جلد ۳ /ص / ۲۲۸ کتاب الزکوة باب فضل صدقة الشحيح الصحيح

اودغه رنګه زرقاني جلد ۳ /ص / ۲۴۸)

سیف لودین کتابتون

د هجرت په شلم کال په مدینه منوره کې وفات سوه عمر فاروق رضی الله عنه د جنازې لمونځ پروکي د مړینې په وخت کې د پنځوس یا درې پنځوس کالو وه او په کوم وخت کې چې له نبی کریم ﷺ ورسره نکاح وکړه په هغه وخت کې د دې عمر ۳۵ کاله وو (اصابه جلد ۴ /ص / ۳۱۴ ترجمه زینب بنت جحش رضی الله عنها)

د ستر او پردې مسئلې ته لنډه کتنه!

د ټولو انبیاء او پیغمبرانو علیهم السلام او بیا د ټولې نړۍ د پوهانو او حکیمانو او د عقل د خاوندانو پردې خبره اتفاق دی چې زنا یو ډیر بدترین او بې غیرته ګناه دی د غیرت او ناموس لپاره یو لوی شرم دی او د بدو خویو او بدو کارو سرچینه زنا دی له بل لوری دا خبره هم روښانه ده چې د ښځو په لیدلو سره د نارینه په زړه کې و دوئ ته میلان او نرمی پیدا کیږی او دغه رنګه د نارینه په لیدلو سره د ښځو په زړو کې له دوئ سره مینه پیدا کیږی چې ډیر وخت په ناروا طریقه سره پرته له نکاح د شهوت پوره کولو لامل ګرزی او د دواړو د عزت او ناموس او شرافت او نسب د بربادی سبب جوړیږی په دې هکله چې څه روښانه دی د هغه د ویلو اړتیا نسته نو ځکه د حکمت غوښتنه داده چې باید د زنا دروازه بنده سی د زنا د دروازی بندیدل په اسلامی شریعت کې د ښځو د ستر او پردې په هکله حکمونه صادر سوی دی

(۱) الله تعالی په خپل پاک کلام کې فرمایلی دی ﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى﴾ (۳۳ آیت سورة الاحزاب) په خپلو کورو کې او سیږی او د جاهلیت د وخت په شیر په ښائست سره د باندی مه راوزی..

(۲) او که په کور کې ناستی یاست او له بیګانه پردی سړی سره د خبرو اړتیا پیښه سوه نو بیا د الله تعالی حکم داسی دی ﴿فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَعْرُوفًا﴾ (۳۲ آیت سورة الاحزاب) یعنی که تاسو ته له پردی او بیګانه سړی سره د خبرو اړتیا پیښه سوه نو په ناز او نرمی سره خبری مه کوی هسی نه چې د چا په زړه کې چې د شهوت ناروغی وی هغه تاسو ته طمع پیدا کې او سمی سیده خبری کوئ

(۳) دریم دا حکم بیا و نارینه وو ته وسو ﴿وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ﴾ (۵۳ آیت سورة الاحزاب) ژباړه: او اې نارینه وو کله چې تاسو له پردو ښځو څخه کوم شئ غواړی نو د پردې له هغه بلې خوا څخه یې غواړی دا خوی او داسی غوښتنه د دوئ او ستاسو د زړو د پاکوالی غوره لاره دی.

(۴) او نارینه وو ته د حکم وسو چې پردی او بیګانه ښځو ته به پورته نه ګوری ﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ﴾ (۳۰ آیت سورة النور)

(۵) شریعت د ښځې آذان او اقامت او امامت منع کړی دی.

سیف لودین کتابتون

(۶) د ښځې په زوره لمانځه کې یې په زوره ویل منع کړې دي
(۷) په حج کې په لوآواز سره لبیک ویل د ښځو لپاره منع سوي دي
(۸) د ځوانې ښځې و پردي سړي سلام اچول یې هم ناروا ګرزولي دي
(۹) له پردي ښځې سره د بدن هره برخه مښلول منع دي
(۱۰) په هنداره یا اوبو کې چې د پردي ښځې انځور او تصویر راسي هغه عکس ته کتل یې ناروا دي ،، په دې بناء باندي د ښځې تصویر او عکس ته کتل تر دې هم ډیر ناروا دي ځکه دا وبو عکس تراوسني عکس ډیر د فتنې سبب جوړیږي
(۱۱) د پردي ښځې یادونه د خوند په ډول ناروا دي
(۱۲) د پردي ښځې په فکر سره خوند اخیستل ناروا دي
(۱۳) که یو سړی له خپلې ښځې خوند اخلي او په چورت کې یې پردي ښځه وي نو دا هم حرام او ناروا دي ..
(۱۴) د پردي نارینه ځخه پاته سوي خوراک د ښځې لپاره خوړل که د خوند په ډول وي مکروه دي او د دې خلاف یعنې د ښځې پاته سوي خوراک که سړي د خوند په ډول وخوري دا خوراک مکروه دي
(۱۵) له پردۍ ښځې سره په لاس سټړی مه شي کول او د دې لاس په لاس کې نیول ناروا دي لکه نن صباچې یو شمیر ناپوه پیران له ښځو په لاس بیعت اخلي او دا کار ډیر سخت ناروا دي که له ښځو ځخه څوک بیعت اخلي نو باید د پردې شاته وي او په ژبه وي په لاس نه وي هوښیاران او غیرتمند خلک دې فکرو کړي چې د ښځو ساتنه او د عزت او ناموس د خوندینې لپاره تر شریعت محمدیه بله غوره لاره پیدا کیدای سي څه چې موږ ته سپڅلي شریعت را ښودلي دي او موږ در ته بیان کړه د هندوستان شرم او حیاء او پاک لمنې او غیرت په نړۍ کې یو ضرب المثل وو خو د دې نوي پرمختګ زمانو په خپلو درسو او تعلیمي ادارو کې پردې باندي او به واچولې او د تل لپاره یو تور داغ پرېښود دي (انالله واناالیه راجعون) لکه نن چې په افغانستان کې څه روان دي امریکایان کوښښ کوي چې د تعلیم او پرمختګ په نامه ښځې له کورو د باندي را وباسي (مترجم)

د ښځو په هکله د نبی کریم صلی الله علیه وسلم وینا !

په یوه حدیث شریف کې د نبی کریم ﷺ یوه اوږده خطبه ذکر سوي ده چې د هغې خطبې یوه جلمه دا سي ده (النساءُ حبالة الشیطان) یعنې ښځه د شیطان جال دي چې د دې جال په ذریعه نارینه ښکار کوي په جال کې بندیږي او د ښځې د خوند نندار ه خلکو ته ښکاره کوي (فیض القدیر جلد ۲ /ص / ۱۷۷)

سیف لودین کتابتون

د سليمان ﷺ وينا ده (امش وراء الاسد ولاتمش رواء المرئة) دزمري په مخکښې ځه خودپردی ښځی شاته مه ځه ، يعني دزمري ترمخ تلل دومره خطرناک نه دی لکه څومره چی د پردی ښځی په شاپسی تګ کښې ويره اوخطره سته ..

اويوشمير حکماء وايي (اياک ومخالطة النساء فان لخطات المرئة سهمٌ ولفظهاسَمٌ) دښځوله ګډون څخه ځان وساتی دښځی کتل غشی دی اودديي خبری وژونکي زهردی (فيض القدير جلد ۲ /ص / ۱۷۷)

دپردی اوسترفائدی اودبی ستری ضررونه !

اسلامی شريعت خو دښځي دپردی حکم کړی دی.(۱) ددي لپاره چی دښځوساتنه وسی (۲) دويم دديي لپاره چی دپاک لمنوښځومخ دبدعملوله ناپاک سترګوخوندی سی (۳) دريم دديي لپاره چی ددوئ په کورنۍ اونسب باندی هيڅ تور پوری نه سی چی يوبدګمانه دديي په اولادکښې شک اوشبه وانه چوی چی دااولاددوئ دی اوپلارپه يقين سره داوويلای سی چی دازمازوی دی يادازمالورده دبدی ښځي داولادپه اړه يقيني داسی نه سی ويل کيدای چی دااولاددديي دميړه دی ، غربی نړۍ ته وګوری چی هلته څومره بی حيايي اوبی پردګی اودنارينه اوښځوپه ګډون سره دزنااوحراميان څومره ډيردی دغربی نړۍ حالات بيانول خوتروس تيره خبره ده سترګوليدلی ته دبيان کولوضرورت نسته داندزناروغی له واړه ترزاړه په ټولوکښې عامه سوی ده په غرب کښې زنادومره عامه سوی ده چی چاته حلال ويل ډير ګران دی (۴) څلورم : دديي لپاره چی دنارينه اوښځی زړه دشيطان له وسوسو څخه پاک پاته سی کله چی نارينه اوښځی يو اوبل ته ګوری نوشيطان ته دبدوخيالولويدلووخت پيداکيږی (۵) پنځم : دديي لپاره چی دښځی دپاک لمني دميړه اوکورنۍ په نظرکښې داشک اوشبه اوتورڅخه پاک پاته سی نارينه چی کله خپله خور يالورووينی چی له پردی سړی سره خبری کوی نوکه دعقل اوغيرت خاوندوی نوډير خفه کيږی اوبی عقل اوبی غيرته ډيموکراسانواودښځوآزادی غوښتونکوسره زموږ هيڅ کارنسته دوئ هسی په نامه مسلمانان دی اسلام يې بدنامه کړی دی الله ﷻ دیي ټول مسلمانان له داسی بی غيرتی څخه وساتی چی خپلی ښځي دباندی راباسی اودتعليم اومکتب په نامه باندی لوڅوی له داسی بی غيرته خلکوسره ناسته ولاړه عقلا نارواده اوداسی بی غيرتانوملګری عقلااوشرعانارواده ..

ابليس عليه اللعنة څه وخت ډيرخوشاله سو ! قصه

موږاوس دمثنوی يوه قصه راوړو ابليس لعين دخلکودګيرولولپاره له الله تعالیٰ څخه ديوه ټينګ جال اودام غوښتنه وکړه الله تعالی رنګارنګ دامونه اوجالونه ورته

سيف لودين کتابتون

وړاندې کړه خو دده خوښ نه سوه په پای کې یې د ښځو دام او جال ورته وړاندې کې په دې سره ابلیس لعین دومره خوشاله سو چې له ډېر خوشالۍ یې نڅا او ټوپ وکې مولانا جلال الدین رومي د مثنوي په پنځم دفتر کې وایې چې ابلیس لعین چې کله د الله ﷻ له درباره وشړل سو نو قسم یې وخوړی ﴿قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ (۸۲)﴿إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾ (۸۳)سورة ص)قسم دی ستا په عزت اولویې چې زه به هرومرو د آدم عليه السلام اولاد بې لارې کوم او ددوئ په بې لارې کې به هیڅ سستي نه کوم مګر ستا خاص او غوره بندګان زه نه سم بې لارې کولای .. تردې وروسته ابلیس لعین له الله تعالی څخه غوښتنه وکړه چې ماته د انسان د ښکار کولو لپاره داسې دام راکړه چې کله په هغه کې وموښلی بیانه سی ځنې وتلای الله تعالی ابلیس لعین ته رنګارنګ دامونه وړاندې کړه ..

لومړی الله تعالی تر ټولو مخکې شیطان لعین ته د سروزرو او د آسانو دام وړاندې کې او داشیان یې وروښودل او ورته وې فرمایل چې ته دا جال واخله او خلک پکې ښکار کوه ځکه خلک طبعاو دې شیانو ته میلان لري ددې شیانو له لارې د انسان ښکار کول او په جال کې راګیریدل ډېر آسانه دی لکه چې الله تعالی فرمایي

﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذَٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الْمَآبِ﴾ (۱۴آیت سورة آل عمران) شیطان لعین وویل چې ربښتیا هم د سرو او سپینو زرو جال ښه دی خو مرغونې په ځیر تریخ او تریو دی او د تریخوالي په وجه ژر به سره مښلوی ، کله چې شیطان لعین د سرو او سپینو زرو جال خوښ نه کې نو الله تعالی ودې لعین ته د خزانو او ارزښتناکو جواهراتو او غمیانو جال وړاندې کې اوورته وې فرمایل اې لعین دا دویم دام دی ولاړ شه دا درسره واخله ؟ شیطان وویل اې غوره مرسته کونکې تردې هم غوره دام راکړه د سپینو او سروزرو په ځیر د جواهراتو دام هم ډېر ټینګ نه دی ، وروسته الله تعالی وشیطان لعین ته خواږه اومزه دار خوراکونه او ارزښتناک شراب او وریښمنې جامې وښودلې چې دا دام واخله او خلک په ښکار کړه ؟ شیطان لعین وویل اې مولی تردې هم غوره جال غواړم ددې لپاره چې د آدم عليه السلام اولاد په داسې ټینګه رسۍ وتړم چې هغه دوئ نه هیڅ وخت نه سی شلولای او ستاد توبې دروازې ته یې یادوئ منډې نه سی وهلای مګر کوم خلک چې ستاد محبت په شرابو کې مست وی او هغه ربښتینې میړونه وی ددوئ زړونه ستاله مینې او محبت ډک وی هغه به دارسۍ اوولچکونه ماتوی او سره او سپین زر او د دنیا هر رنګه خوندوته به نه ګوري لکه چې الله تعالی فرمایي ﴿إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾ (۴۰سورة الحجر)شیطان وویل عیاشان او د الرومینان ډېمو کراسان خو به په دې جال کې بندسي خو په دې طریقه به ستادلارې مړونه له نام دو بیلیږي نو ځکه زه تردې هم ټینګ او غوره جال غواړم چې هیڅوک له دې جاله

سیف لودین کتابتون

ونه وزی اې دنړۍ پاچازه ترډی هم غوره دام غواړم چې سړی داسې عاجزه کوی چې دده هیڅ چل اوفریب کارنه ورکوی ، الله تعالی ترډی وروسته شیطان لعین ته یوبل جال وښودی هغه داچې دشراب اوکباب سروزاورباب نغمې یې ورته وړاندی کې شیطان چې کله داشیان ولیدل کراریې وخندل اونیم خوشاله سو اوپه دې پوه سو چې هوداجال خودتیروجالوپه پرتله ښه دی په دې جال کې به څه خلک راګیرسی مګرپه دې جال سره ډیرکارنه کیږی شیطان لعین نیم خوشاله سوپوره خوشاله نه سو ځکه یې په وازکومی ونه خندل داسې فکریې وکی چې داجال هم دتل لپاره دبربادولواوفسادلپاره پوره کارنه ورکوی ځکه ترډې هم دغټ جال غوښتنه یې وکړه ، اوله الله تعالی څخه یې دتل لپاره دبې لاری کولولپاره دجال غوښتنه وکړه اووې ویل چې داسې دام راکړه دفتنې دسیندپه تل کې ګرځونه راپورته کی ددې لپاره چې عیاشان دفتنې دریاب وچ وګڼی اوپرهغه لاره ولاړسی اودقبطیانوپه څیرپکې غرق سی لکه څنګه چې تادموسی عليه السلام لپاره سیندوچ کې اوپه سیندکې دی دیوالونه ودرول اواوبه یوی اوبلې خواته لوړی سوی اوددریاب له منځه ګرځ اودوړی راپورته سوی قبطیان هم پردی لار ولاړل اوپکې غرق سول دغه رنګه زمادفتنې دریاب وچ کړه اودوئ زماترلاس لاندی کړه زه چې کومه فتنه غواړم دهغې دوړی اوګرځونه راپورته کولای سم اودآدم عليه السلام اولادتباه اوبردباکړم لکه څنګه چې موسی عليه السلام ستادهادی نامه ښکاره کونکې وو زه بیاستادمضل نامه ښکاره کونکې یم لکه څنګه چې تادهغه دپوره لارښوونی لپاره دنیل سیند وچ کړاوګمراهان اولاروړکی دی پکې ډوب کړل دغه رنګه زمالپاره دپوره بې لاری کولودفتنې سیندوچ کړه اودفتنې سیندزماتابعدار کړه ددې لپاره چې دګمراه کولوکارپوره وسی اولکه څنګه چې له موسی عليه السلام څخه دهدایت کارپوره واخیستل سو له ماڅخه دګمراهی کارپوره واخله کیدای سی ابلیس لعین ته دموسی عليه السلام قصه مخکې ترپیښیدوعلم حاصل سوی وی غالب داده چې په لوح محفوظ کې داقصه لیکل سوی ده اولعین لیدلې وه والله اعلم ..

شیطان لعین وویل اې ربه یوداسې ټینګ دام راکړه چې په هغه کارپای ته ورسیږی اوزماکارپوره په وسی اوزه ددوئ په خولوکې دواګی په څیرواچوم اوپه خپل دام کې یې ننباسم اوچیری چې زه وغواړم هلته یې راباسم اودوئ له دې سرغړونه نه سی کولای اوپه بازاراوکوڅوکې دوئ وګرزوم ددې لپاره چې دنیاددوئ دخونداخیستلوښه نندارہ ووینی ، شیطان لعین ته خوډیر داموانه وړاندی سو خودئ په یوه هم راضی نه سو په آخرکې الله تعالی دښځودښائست اوجمال دام وروښودی چې هغه دنارینه عقل اوصبروړونکې وو اوورته وې فرمایل چې ښه لعین دادام واخله اوددې دام په ذریعه خلک بې لاری کړه اودفتنې ددریاب په مینځ کې ګرځونه اودوړی په دې راپورته کوه

شیطان لعین ته چی کله دښځو ښائست اوحسن دام وښودل سو نوسمدستی شیطان په نڅاسو اوچک چکی یې پیل کړی دښځو ښائست اوجمال چی ده ولیدی پوه سو چی داهغه دسیند دفتنی دام دی چی له دې څخه هیڅوک روغ رمټ وتلای نه سی اووې ویل چی اې ربه دادام ماته راکړه زه خپل هدف ته ورسیدم دخلکو دغولولوپاره دا ډیرغوره اوبهترین جال دی ،، اوس ددې دام یاجال دحالت بیان درته کوو :

کله چی دې لعین ولیدل چی دښځوسترګی داسی خماری اونخربازی دی چی په عقل اوپوهه باندی پرده غوړوی اوهغه ولیدل چی عاشقانوزړونه ددلبردبارخوګانو سپین والی اوښائست دململ په څیرسوځوی اودعاشقانوزړونه دشمع په څیرویلوی اووې لیدل چی دښځومخ اوخالونه اووروځی اودعقیق په شان سری شونډی داسی ځلیږی لکه لمرچی ترنری پرده لاندی ځلیږی ،، اووې لیدل چی دښځوقداوقامت داسی دی لکه دګل یاسمین بارخوګان اونستمین ننداره چی کوی .. کله چی لعین دښځوناز اونخری ولیدی نوټوپونه یې پیل کړه اوپوه سو چی دبې لاری کولواودوسوسی داچولوداډیر غوره اوبهترین جال دی اوپه اصل کې دادنړۍ پردی څخه دالله ﷻ دحسن اوجمال یوه نمونه وه پوه خلکودې مجازی اوتلونکی ښائست ته بیخی هیڅ ونه کتل په نړۍ کې چی هرځای ښائست اوښکلادی هغه دنورالسموات والارض دحسن اوجمال یوه کمزوری نمونه اوانځوردی اودنړۍ هره هره ذره ددې ښائست اوښکلا آینه اوهنداره دی مګرتوپیرپکی دادی چی کومی هنداری ته کتل روادی اوکومی هنداری ته کتل ناروادی دانبیاء علیهم السلاِم په ښودل سوی لارباندی چی دخپلی ښځی ښائست اوښکلاته کتل خوروادی مګر دبل چادښځي وښائست اوښکلاته کتل قطعاً اویقینا ناروادی الله تعالی چی تاسوته کومهٔ هنداره درکړی ده هغې ته ګوره یواځی تاته یې کارول روادی اوتاته یې اجازه درکړی ده اوددې اجازه نسته چی ستاپه هنداره کې خلک وګوری دخوییخی نسته چی هغه ته یې ورکړی شریعت وایې چی خپلی لوراوخورته دشفقت په سترګوکتل روادی اودشهوت په سترګوکتل ناروادی اودخپل زوی ښائست اوښکلاته دمینی په نظرکتل روادی اودبل چادزوی وښائست اوښکلاته کتل ناروا دی کوم سړی چی پردی ښځی اولور اوخورته کتل روابولی هغه به خامخاوخپلی ښځی اوخور اولورته دبل چادکتلو اجازه اوبلنه ورکوی اوپه دې خبره غیرتمند مسلمان دیوګړی لپاره هم نه راضی کیږی لکه اوس چی مسلمانان دومره بې همته سوی چی خپلی لوڼی اوخویندی واسکول یاښوونځی اومکتب ته دتعلیم په نامه ورلیږی معاذالله)شیطان لعین چی کله دښځو نازونه اونخری اوآداګانی ولیدی حیران پاته سو ځکه دشیطان تر ټولو جالو همداجال خوښ سو چی دبیلاری کولواوپه دام کې دنښولوتردی بل غوره دام نسته ،، قصه پای ته

...مثنوی دفتر پنځم صفحه ۴۱۳ مطبعه نول کشور لکهنو مثنوی دفتر پنځم صفحه ۸۴ مطبعه کانپوری)

سیف لودین کتابتون

اتمه بی بی ام المؤمنین جویریه بنت حارث بن ضرار رضی الله تعالی عنها!

جویریه رضی الله عنها دحارث بن ضراردبنی المصطلق قبیلې دمشرلور وه لومړنی نکاح یې له مسافح بن صفوان مصطلقي سره سوی وه چې دمریسیع په غزاکې ووژل سو په همدې غزاکې نورهم ډیری ښځی اوبندیان په غنیمت ونیول سو په دوئ کې جویریه رضی الله عنها هم وه رسول الله ﷺ داآزاده کړه اونکاح یې ورسره وکړه اوځلورسوه درهمه ولوروټاکل سو کله چې جویریه رضی الله عنها نبی کریم ﷺ په نکاح کړه دادشلوکالووه دهجرت پنځوسم کال د لومړی خورپه میاشت کې وفات سوه دوفات په وخت کې ددې عمر۶۵ پنځه شپیته کاله وو مروان بن حکم چې دمدینې منوری امیرودجنازی لمونځ پروکی اودمدینه منوری په مشهوره هدیره جنت البقیع کې خاوروته وسپارل سوه (اصابه ترجمه ام المؤمنین جویریه رضی الله عنها (اصابه جلد ۴/ص/۲۶۵)

جویریه رضی الله عنها دالله عزوجل عبادت په ځانګړی اخلاص کوی دعبادت لپاره یې دمسجدپه نامه په کورکې یوځای جوړکړی وو لکه چې په جامع ترمذی کې په صحیح سندسره عبدالله بن عباس رضی الله عنه له جویریه رضی الله عنها څخه روایت کړی دی وایې چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم سهاروختی تشریف راوړی اوزه په خپل خاص مسجدکې په عبادت مشغوله وم نبی کریم ﷺ ولاړی نژدی نیمایې ورځ تیره وه بیرته یې تشریف راوړی اوزه هم هغه شان په عبادت مشغوله وم کله چې نبی کریم ﷺ ولیدلم راته وې ویل چې ته له هغه وخته تراوسه په عبادت بوخته یې ماورته وویل هو نبی کریم ﷺ وفرمایل زه تاته یوڅوکلمې وښیم هغه وایه هغه کلمې داسې دی (سُبْحَانَ الله عددخلقه) درې ځله او (سبحان الله رضانفسه درې ځله او (سُبْحَانَ الله زنةَ عرشه) درې ځله او (سبحان الله مدادکلماته) درې ځله. دمسلم اوابوداؤدپه روایت کې راغلی دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل چې ماله تاوروسته څلورکلمې درې ځله ویلی دی که هغه ستاله دې ټولوتسبیحاتوسره وتلل سی کومې چې تاله سهاره تراوسه پوری لوستلی دی نوداڅلورکلمې به په وزن کې تردرندی وی هغه کلمات دادی (سُبْحَانَ الله وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خلقه ورضانفسه وزنة عرشه ومدادکلماته (زرقانی جلد۳/ص/۲۵۵)

نهمه بی بی ام المؤمنین ام حبیبه بنت ابوسفیان رضی الله تعالی عنها!

ددې نوم امله دی اوپه ام حبیبه سره مشهوره وه دقریشودمشهورمشر ابوسفیان بن حرب اموی لوروه دمورنوم صفیه بنت ابی العاص دی دعثمان غنی رضی الله عنه تروروه دنبی کریم ﷺ دنبوت څخه ۱۷اوولس کاله مخکې پیداسوی ده لومړنی نکاح یې له عبیدالله بن جحش سره سوی ده (۱)

(۱) دده نوم عبیدالله په تصغیرسره دی اوعبدالله بن جحش رضی الله عنه دزینب رضی الله عنها ورور دی هغه داحدپه غزاکې شهیدسوی دی دام حبیبه رضی الله عنها دلومړنی خاوندنوم عبیدالله دی په تصغیرسره نه عبدالله په یوشمرروایاتوکې عبدالله دعبیدالله پرځای په غلطی لیکل سوی دی)

ام حبیبه رضي الله عنها داسلام په پیل کې مسلمانه سوی ده اوددې میړه هم اسلام راوړی
اودواړو حبشی ته هجرت وکي کله چي حبشی ته ولاړل یوه لورېې پیدا سوه چي دهغې نوم
یې حبیبه کیښوده اوپه همدې نامه سره ام حبیبه ددې کینت کیښودل سو اوپه دې نامه سره
مشهوره سوه (۱) له څو ورځوورروسته عبیدالله له اسلام واوښتی مرتدسو اوعسویت یې
غوره کی مګر ام حبیبه رضي الله عنها په اسلام باندی کلکه ودریده اوپاته سوه ام حبیبه رضي الله عنها وایې
چي دعبیدالله له عیسایې کیدو مخکې ماهغه ډیر په بدشکل په خوب ولیدی ډیر
وویریدم کله چي سهارسو نوزه خبره سوم چي عبیدالله عیسایی سوی دی ماخپل خوب
ورته بیان کې چي کیدای سی دئ پوه سی مګر ده هیڅ توجه ونه کړه اوپه شراب اوکباب
کې کلک پاته سو ترڅو چي په دې حالت کې مړسو څوورځی وروسته خوب ولیدی چي
یوڅوک دیاام المؤمنین ناره راته کوی په دې ناره زه ډیره وویریدم دعدی له پوره
کیدووروسته درسول الله ﷺ دنکاح پیغام راورسیدی (رواه ابن سعد (۲)
رسول الله صلی الله علیه وسلم عمروبن اُمیه ضمری ته دنکاح پیغام ورکی اودحبشی
پاچانجاشی ته یې ولیږی چي که ام حبیبه رضي الله عنها زماسره نکاح کول غواړی نوته یې دوکیل په
ډول زماسره نکاح وتړه اوماته یې راولیږه نجاشی خپلی مینځی ابره ته داپیغام ورکی ام
حبیبه رضي الله عنها ته یې ولیږله چي ماته رسول الله ﷺ یولیک رارسیدلی دی چي داسی مضمون یې
دی که ستاخوښه وی نودخپل ځان لپاره څوک وکیل ونیسه ام حبیبه رضي الله عنها پیغام ومنی
اوخالدبن سعیدبن العاص اموی رضي الله عنه یې خپل وکیل وټاکي اوددې زیری په بدل کې یې
دلاسودواړه بنګړی اودپښوپایزیبونه اودګوتوګوتمیانی چي ټول دسروزروو ابره ته
ورکړی کله چي ماښام سو نونجاشی جعفر رضي الله عنه اونورمهاجرین مسلمانان راوغوښتل اوپه
خپله یې دنکاح خطبه ولوسته نجاشی داسی خطبه ولوستله :

الحمدلله الملک القدوس السلام المؤمن المهیمن العزیز الجبار اشهدان لااله الاالله وان محمداً عبده ورسوله وانه الذی بشربه عیسی بن مریم صلی الله علیهما وسلم . امابعدفان رسول الله صلی الله علیه وسلم کتب الیّ ان ازوجه ام حبیبة بنت ابی سفیان فاجبت الی مادعاالیه رسول الله صلی الله علیه وسلم وقداصدقتها اربعمأة دینار)

ژباړه : ثناوصفت هغه پاک اوغالب اوعزتمنداوزورو ذات لپاره دی زه
شاهدی ورکوم چي له الله عزوجل پرته بل هیڅوک دعبادت اوبندګی لائق نسته اوزه شاهدی

---

(۱) حبیبه رضي الله عنها هم صحابیه ده اودرسول الله ﷺ ربیبه پالل سوی)ده دخپلی مورام حبیبه رضي الله عنها سره یې یوځای له حبشه څخه مدینی منوری ته هجرت وکی په دې کې اختلاف دی چي حبیبه رضي الله عنها په حبشه کې پیداسوی ده اوکه په مکه کې والله اعلم اصابه جلد ۴ /ص /۳۰۵ ترجمه املة بنت ابی سفیان رضي الله عنهما)

(۲) په یوبل روایت کې راغلی دی چي داخوب مې ولیدی نوویریدم مګر له دې سره می په زړه کې دخوب داترجمه راتیره سوه چي رسول الله ﷺ به زماسره نکاح کوی (صفوة لابن الجوزی جلد ۲ /ص / ۲۲)

سیف لودین کتابتون

ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم دالله ﷻ غوره بنده اورسول ﷺ دی او داهغه نبی علیه السلام دی چې عیسی دمریم زوی علیه السلام یې زیری ورکړی دی وروسته تردی رسول الله ﷺ ماته داسی لیک رالیږلی دی چې زه دام حبیبه رضی الله عنها چې دسفیان لورده نکاح له ده سره وکړم مادهغه دغوښتنی برابر دام حبیبه رضی الله عنها له رسول الله ﷺ سره وکړه اوڅلورسوه دیناره ولور مې معلوم کې .هغه څلورسوه دیناره ولوریې خالدبن سعیداموی رضی الله عنه ته وسپاری ،

وروسته بیاخالدبن سعید رضی الله عنه چې دام حبیبه رضی الله عنها وکیل وو ولاړسو داسی خطبه یې ولوسته :

الحمدلله احمده اوستعینه واستغفره واشهدان الااله الاالله وحده لاشریک له واشهدان محمداعبده ورسوله ارسله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله ولوکره المشرکون) ژباړه :هرڅه ثنا وصفت الله ﷻ لره دی زه دالله ﷻ ستاینه کوم اواوله الله ﷻ مرسته غواړم اوله الله ﷻ څخه بخښنه غواړم اوشاهدی ورکوم چې دالله ﷻ څخه پرته بل هیڅوک دعبادت اوبندګی لائق نسته هغه یودی هیڅوک له ده سره شریک نسته اوزه شاهدی ورکوم چې محمدصلی الله علیه وسلم دالله ﷻ غوره بنده اورسول ﷺ دی چې الله تعالی په سمه لاره اوحق دین سره رالیږلی دی ددې لپاره چې داددین په ټولوادیانوباندی برلاسی کې که څه هم پر کافرانوداخبره ډیره بده لګیږی ..

خلکودولاړیدواراده وکړه مګر نجاشی وویل چې اوس کښینی دانبیاء علیهم السلام داطریقه ده چې له نکاح وروسته ولیمه کوی نوسمدستی خوراکونه راوړل سوډډی چې کله وخوړل سوه وروسته ټول رخصت سو دولوررویې چې کله ام حبیبه رضی الله عنها ته ورسیدی دې ابره مینځه راوغوښتنه اوپنځوس دیناره یې ځنی ورکړه ابره دغه پنځوس دیناره اوهغه ګینې کومی چې مخکې یې ورکړی وی ټولی بیرته ورته وسپارلی وې ویل چې پاچاماته په ټینګه داحکم کړی دی چې له تابه هیڅ شئ هم نه اخلم اوته یقین وکړه چې زه دمحمدصلی الله علیه وسلم تابع سوی یم اودده دین مې منلی دی اودالله ﷻ لپاره مې دین اسلام قبول کړی دی اونن پاچاخپلوټولوښځوته حکم کړی دی چې له دوئ سره چې څومره عطروی له هغوڅخه دې خامخاتاته تحفه راولیږی په دویمه ورځ ابره ډیر عطرونه اورنګارنګ خوشبویی راوړی وام حبیبه رضی الله عنها ته یې وسپارلی

ام حبیبه رضی الله عنها وایې چې ماهغه ټول عوداوعطرونه وساتل اوله ځان سره می رسول الله ﷺ ته راوړه اورسول الله ﷺ ته می ورکړه وروسته ابره وویل چې زمایوه غوښتنه دی هغه داچې رسول الله ﷺ ته زماسلام وایه اوداورته ووایه چې زه مسلمانه سوی یم زماتررااتګه پوری دابره داسی حالت وو چې هرځل به ماته راتله نودابه یې ویل چې ګوره زماخبره هیره نه کړی کله چې زه مدینی منوری ته راورسیدم دحبشی ټول حالات اوپیښنی می رسول الله ﷺ

سیف لودین کتابتون

ته بیان کړی نبی کریم ﷺ به ورو وروخندل په پای کې می دابره سلام وروړسوی نبی کریم ﷺ وفرمایل وعلیها السلام ورحمة الله وبرکته (۱)

دهجرت په څلورڅلویښتم ۴۴ کال په مدینه منوره کې وفات سوه اویوشمیرخلک بیاوایې چې په دمشق کې وفات سوه خوسمه خبره داده چې په مدینه منوره کې وفات سوی ده (۲) ترنبوت اوولس ۱۷ کاله مخکې پیداسوی ده نوپه دې حساب سره درسول الله ﷺ سره دنکاح په وخت کې ددې عمر ۳۷ اووه دیرش کاله کیږی اودوفات په وخت کې ددی عمر ۷۴ کاله وو

عائشه صدیقه رضی الله عنها وایې چې ام حبیبه رضی الله عنها چې کله وفات کیدله نوزه یې وروغوښتلم اوراته وې ویل چې دبنوپه مینځ کې خامخاڅه خبره پېښیږی داتاته ښه معلوم دی نوڅه چې له ماسوی وی هغه ماته راوبخښه الله تعالی دې ماوتاته بخښنه وکړی ماورته وویل ماټول دربښلی دی الله تعالی دې ماوتاته ښښنه وکړی ام حبیبه رضی الله عنها وویل اې عائشې رضی الله عنها تازه خوشحاله کړم الله تعالی دی تاخوشحاله لری وروسته یې ام سلمه رضی الله عنها راوغوښته اوله هغې سره یې هم داخبره وکړه (اخرجه ابن سعد اصابه ترجمه ام المؤمنین رمله بنت ابی سفیان رضی الله عنها (۳)

لسمه: بی بی ام المؤمنین صفیه بنت حیی بن اخطب رضی الله تعالی عنها!

صفیه رضی الله عنها دیهودودبنی نضیرقبیلی دمشر حیی بن اخطب لوروه حیی دموسی علیه السلام دورور هارون علیه السلام له اولادی څخه دی دمورنوم یې ضرّه وه لومړنۍ نکاح یې له سلام بن مشکم قرظی سره سوی ده دسلام له طلاق ورکولووروسته کنانة بن ابی الحقیق په نکاح کړه (۴) کنانة دخیبرپه غزاکې ووژل سو اونومړی دمسلمانانوپه بند کې راغله رسول الله ﷺ آزاده کړه اونکاح یې ورسره وکړه اوهمداآزادیدل ددې مهر وټاکل سو صحابه کرام رضی الله عنهم چې کله له خیبرروان سو دصحباء په نامه ځای کې میشت سو چې له خیبرڅخه یومزل لیری دی کله چې هلته ورسیدل نونبی کریم ﷺ له دې سره واده وکي اودواده ډوډۍ تیاره سوه خوراک په عجیبه طریقه تیاره سو دخرمنی یوسترخان خپورسو اوانس رضی الله عنه ته نبی کریم ﷺ وفرمایل چې اعلان وکړه چې له هرچاسره دخوراک توکی وی هغه دې راوړی چاخورماوی راوړی اوچاپنیر اوستوان اوچاغوړی راوړل کله چې داتوکی رایوځای سو نوټولوصحابه کرام رضی الله عنهم پریوه ځای کښینستل اووې خوړل په دې ولیمه کې غوښه اوډوډۍ بیخی نه وه (بخاری، مسلم)

(۱) صفوة الصفوة جلد ۲ اص / ۲۲، زرقانی جلد ۳ اص / ۲۴۳)
(۲) زرقانی جلد ۳ اص / ۲۴۵)
(۳) الاصابه جلد ۴ اص / ۲۳۶، صفوة الصفوة جلد ۲ اص / ۲۴)
(۴) [illegible]

سیف لودین کتابتون

په صهباء کې رسول الله ﷺ درې ورځې تيرې کړې او صفيه ﷺ په پرده کې اوسيده کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له هغه ځايه روان سو نو په خپله يې صفيه ﷺ په اوښ باندې سپره کړه او په خپله شړۍ يې په هغې باندې پرده وکړه ددې لپاره چې څوک يې ونه ويني او بل ددې اعلان وو چې صفيه ﷺ هم ام المؤمنين ده مينځه نه ده (بخاري و مسلم (۱)

صفيه ﷺ چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم په نکاح کړه نو نبي کريم ﷺ د صفيه ؓ په سترګه يو شين داغ وليدى او پوښتنه يې ځنې وکړه چې دا څنګه شينوالي دى صفيه ؓ وويل زه يوه ورځ د خپل ميړه په غيږ کې سر ايښى وو ويده وم ما خوب وليدى چې سپوږمۍ زما په غيږ کې راولويده کله چې راويښه سوم خپل ميړه ته مې دا خوب بيان کى ده په ډير زور پر مخ په څپيړه ووهلم او وې ويل چې ته د يثرب د پاچا اميد کوې (اشاره نبي کريم ﷺ ته وه (اخرجه ابو حاتم و الطبراني برجال الصحيح عن ابن عمر ؓ (۲)

صفيه ؓ چې کله له خيبره مدينې منورې ته راغله نو د حارثه بن النعمان ؓ په کور کې ميشت سوه ددې د ښائست خبر چې د مدينې ښځو واوريدى نو د انصارو ؓ ښځې ددې د ليدو لپاره راغلې او عائشه صديقه ؓ هم پټه په پرده کې راغله خو نبي کريم ﷺ وپيژندله کله چې بيرته ولاړه نو نبي کريم ﷺ پوښتنه ځنې وکړه چې اې عائشې صديقه ؓ څه دې وليدل دې په ځواب کې وويل يوه يهوديه مې وليده ، نبي کريم ﷺ وفرمايل داسې مه وايه ځکه هغې اسلام راوړى دى او ددې اسلام ډير غوره اسلام دى (رواه ابن سعد اصابه ترجمه صفيه بنت حيي ؓ (۳)

يوه ورځ رسول الله ﷺ د صفيه ؓ خواته ورغلى که ګورې صفيه ؓ ژاړې نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه چې صفيه ؓ ولې ژاړې ؟ دې وويل چې عائشه صديقه ؓ او حفصه ؓ ماتنګوى او وايې چې موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په نظر کې تر تا ډيرې عزتمندې يو موږ د رسول الله ﷺ بيبياني يو او د رسو ل الله ﷺ د اکالونې هم يو نبي کريم ﷺ وفرمايل تا داسې ولې نه ورته ويل چې تر ما څوک غوره کيداى سي زما پلار هارون ؑ دى او زما اکا موسى ؑ دى او زما خاوند محمد صلى الله عليه وسلم دى (اخرجه الترمذي عن صفيه ؓ (۴)

عائشه صديقه ؓ وايې چې ما يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل چې ستا د صفيه ؓ لپاره دومره بس دى چې هغه دومره او دومره ده يعنې دومره کوچنۍ قدوالاده

(۱) زرقاني جلد ۳ /ص /۲۵۷، عيون الاثر جلد ۲ /ص /۳۰۷)
(۲) زرقاني جلد ۳ /ص /۲۵۷)
(۳) الاصابه جلد ۴ /ص /۳۴۷)
(۴) الاصابه جلد ۴ /ص /۳۴۷)

سیف لودین کتابتون

نبی کریم ﷺ وفرمایل: اې عائشه صدیقه ﷺ تا داسی خبره وکړه چی که دسیند په اوبو کې واچول سوی نو ټول سیند به خړ کې (رواه ابوداؤد والترمذی)

یو وخت رسول الله ﷺ په سفر روان وو دصفیه ﷺ اوښ ناروغه سو له زینب بنت جحش ﷺ سره تراړتیا زیات بل اوښ هم وو نبی کریم ﷺ ورته وویل که یو اوښ صفیه ﷺ ته ورکړې نو ښه به وی زینب ﷺ وویل زه یې یوی یهودیه ته ورکړم نبی کریم ﷺ په دی خبره باندی ډیر خفه سو او دوې یا درې میاشتی ددې خواته نه دی ورغلی (رواه ابن سعد (۱)

دوفات په وخت کې چی نبی کریم ﷺ ناروغه وو ټولی بیبیانی دنبی کریم ﷺ په شاوخوا راټولی وی صفیه ﷺ وویل اې دالله نبی ﷺ زه له الله ﷻ څخه داغواړم چی ستا پرځای داتکلیف پرماسی نورو بیبیانو ﷺ په خپل مینځ یو بل ته وکتل نبی کریم ﷺ چی کله ولیدی وې فرمایل (والله انها لصادقة) قسم په الله ﷻ دا ربښتیا وایې (اخرجه ابن سعد بسند حسن)

ابو عمربن عبدالبر ویلی دی چی صفیه ﷺ ډیره هوښیاره صبرناکه او دښو صفاتو اوخویو درلودنکي ښځه وه یوه قصه یې داسی ده چی ددې هرڅه ځنی معلومیږی هغه د چی ددې یوه مینځه وعمر فاروق ﷺ ته ورغله او وروته وې ویل چی صفیه ﷺ دخالی یاهفتی ورځ ډیره غوره بولی اوله یهودو سره ښه چلند کوی، عمر فاروق ﷺ سمدستی صفیه ﷺ ته څوک ولیږی اوپوښتنه یې ځنی وکړه چی داولی صفیه ﷺ وویل کله چی الله تعالی ماته دهفتی په بدل کې جُمعه راکړی ده نوله هغې ورځی څخه هیڅکله ماهفته نده خوښه کړی اوپاته سوه له یهودو سره زما خپلوی ده زه له دوئ سره خپلوی پالم عمر فاروق ﷺ ته خویې داځواب ورکی وروسته یې مینځه راوغوښتله اوپوښتنه یې ځنی وکړه چی ته په دې وینا ته چامجبوره کړی وی وینځی وویل زه به ربښتیا درته ووایم زه شیطان ودې تیاره کړم صفیه ﷺ وینځی ته وویل ځه ولاړه سه ته آزاده یې (۲) له سعید بن مسیب ﷺ څخه مرسلاً روایت سوی دی چی کله صفیه ﷺ مدینی منوری ته راغله نو ددې په غوږو کې دسروزرو لښتی اوګینی وی له هغو څخه یې څه فاطمی ﷺ ته ورکړه اوڅه یې نورو ښځو ته (اخرجه ابن سعد بسند حسن (۳) سبحان الله دپیغمبر ﷺ په نکاح سوه اودد نیامینه یې پرېښوده دروژی مبارکی په میاشت کې په کال ۵۰ هجری کې وفات سوه اوپه جنت البقیع کې خاوروته وسپارل سوه (۴)

(۱) الاصابه جلد ۴ /ص / ۳۴۷)
(۲) الاصابه جلد ۴ /ص / ۳۴۷)
(۳) الاصابه جلد ۴ /ص / ۳۴۷)
(۴) زرقانی جلد ۳ /ص / ۲۵۹)

سیف لودین کتابتون

یوولسمه : بی بی ام المؤمنین میمونة بنت حارث رضی الله تعالی عنها !

ددې نوم میمونه رضي الله عنها (۱) دی او دپلار نوم یې حارث او دمور نوم یې هنده وه دهجرت په اووم کال دمیانی په میاشت کې چی کله نبی کریم ﷺ دعمری په نیت مکی مکرمی ته ولاړی دحدیبیه ترسوله یوکال وروسته په همدې وخت کې رسول الله ﷺ په نکاح کړه ابن سعدوایې چی دادرسو ل الله ﷺ آخری بی بی ده چی تردې وروسته یې له بل ښځی سره نکاح نه دی کړی ترنبی کریم ﷺ مخکې ابورهم بن عبدالعزی په نکاح کړی وه دابورهم له مرګ وروسته نبی کریم ﷺ په نکاح کړه او پنځه سوه درهم ولوروتاکل سو

له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت سوی دی چی کله رسول الله ﷺ میمونی رضي الله عنها ته دنکاح پیغام ولیږی نو میمونه رضي الله عنها عباس رضي الله عنه خپل وکیل وټاکی وروسته عباس رضي الله عنه دمیمونی رضي الله عنها نکاح له نبی کریم ﷺ سره وتړله (رواه احمد والنسائی)

په دې اړه روایتونه ډیر مختلف دی چی دنکاح په وخت کې نبی کریم ﷺ په احرام کی او که نه وو دامام بخاری په نزد دا خبره قوی ده چی نبی کریم ﷺ دنکاح کولو په وخت کې په احرام کی وو ، رسول الله ﷺ له مکی مکرمی څخه ولاړی په سرف نامه ځای کې پړاو واچوی او هم هلته یې واده وکوی ،، خوله یو شمیر روایاتو څخه یې دا معلومیږی چی نکاح او واده دواړه یې دسرف په نامه ځای کې وکول او په کال یو پنځوس ۵۱ هجری کې په همدی سرف کې وفات سوه په کوم ځای کې چی ددې واده له نبی کریم ﷺ سره سوی وو او په همدی ځای کې خاوروته وسپارل سوه عبدالله بن عباس رضي الله عنه دجنازی لمونځ پرکړی دی (۲) او قبرته عبدالله بن عباس رضي الله عنه او یزید بن اصم او عبدالله بن شداد او عبیدالله خولانې کښته کړه درې لومړنی دد ې خوریان و او څلورم ددې پالل سوی یتیم وو (۳)

دا یوولس ښځی هغه پاکی بیبیانی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم په نکاح کړی دی او دامهات المؤمنین رضي الله عنهن یعنی دمومنانو مورانی دوئ ته ویل سوی دی او یو څو نوری ښځی هم شته چی له دوئ سره نبی کریم ﷺ نکاح کړی ده مګر ترنږدیکت مخکې یې دوئ پری ایښی دی لکه اسماء بنت نعمان (۴) جَونِیّه او عمره بنت یزید کلابیه ،، ددوئ یادونه موږ لازمی ونه ګڼله ځکه مو پریښودی ..

---

(۱) میمونه رضي الله عنها دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما خاله کیدله او دمیمونی رضي الله عنها خور ام فضل رضي الله عنها دعبدالله بن عباس رضي الله عنه او فضل بن عباس رضي الله عنه مور وه او دعباس رضي الله عنه ښځه وه)

(۲) اصابه جلد ۴ /ص /۴۱۱)

(۳) الاستیعاب جلد ۴ /ص /۴۰۸)

(۴) ددوئ دنکاح او طلاق پوره بیان که غواړی نو فتح الباری جلد ۹ /ص /۳۱۰ تا ۳۱۵ ، باب من وکل الرجل امرأته بالطلاق وګوری

سیف لودین کتابتون

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم مینځی !

درسول الله صلی الله علیه وسلم څلور منیځی وی چې له دوئ څخه دوې مشهوری دی

(۱) ماریه قبطیه رضی الله تعالی عنها !

ماریه قبطیه رضي الله عنها دنبی کریم ﷺ ام ولده ده درسول الله ﷺ زوی ابراهیم رضي الله عنه ددې له نس څخه وو ماریه قبطیه رضي الله عنها دمصر پاچا مقوقس ډالی په ډول نبی کریم ﷺ ته رالیږلی وه ماریه قبطیه رضي الله عنها دعمر فاروق رضي الله عنه دخلافت په وخت په کال یوشپیته ۱۶ هجری کې وفات سوه او په جنت البقیع کې خاورته وسپارل سوه ..

(۲) ریحانة بنت شمعون رضی الله تعالی عنها !

ریحانه رضي الله عنها دبنو قریظه یابنی نضیرله کورنۍ څخه وه کله چې بندی سوه نودمینځی په صفت نبی کریم ﷺ ته وسپارل سوه دحجة الوداع وروسته په کال لسم ۱۰ هجری کې وفات سوی ده او په جنت البقیع هدیره کې ښخه سوه اویو قول دادی چې رسول الله ﷺ دا آزاده کړه اونکاح یې ورسره وکړله والله اعلم ..

(۳) نفیسه رضی الله تعالی عنها !

نفیسه رضي الله عنها مخکې دزنیب بنت جحش رضي الله عنها مینځه وه دصفیه رضي الله عنها په بیان کې تیرسو چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم دصفیه رضي الله عنها لپاره له زینب بنت جحش رضي الله عنها څخه اوښ وغوښتی دې ورنه کی نبی کریم ﷺ ډیر خفه سو دوې یادرې میاشتی ددې خواته نه ورغلی کله چې له زینب بنت حجش رضي الله عنها سره خوشاله سو نوزینب رضي الله عنها ددې خوشالۍ په بدل کې خپله مینځه نفیسه رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته هبه کړه ..

اوله دې درو پرته یوه بله مینځه هم وه چې دهغې نوم نه دی معلوم سوی (زرقانی جلد ۳ /ص / ۲۷۱ تر ۲۷۴ پوری)

ډیرودونه یانکاح وې کول داسلام له نظره (۱)

دنړۍ دتاریخ له منل سویو خبرو څخه داده چې تراسلام مخکې په ټوله نړۍ کې دارواج وو چې یوسړی به ډیری ښځی په خپله نکاح کې ساتلی اودا رواج په ټوله دنیا کې خپور وو حتی چې انبیاء علیهم السلام هم له دې رواجه نه دی وتلی دابراهیم علیه السلام دوې بی بیانی وی اوداسحق علیه السلام ډیری ښځي وی دموسی علیه السلام هم ډیری ښځي وی اودسلیمان علیه السلام شل گونه ښځی وی اودداؤد علیه السلام سل ښځي وی اوپه تورات اوانجیل اونورو صحیفو کې دانبیاء علیهم السلام دډیروښځو یادونه سوی ده اوپه یوه ځای کې هم دډیروښځو دمنع یوه کوچنی اشاره هم نه پیدا کیږی عیسی علیه السلام اویحی علیه السلام یوائې هغه دوه پیغمبران دی چې واده یې ییخی کړی دی نوکه ددوئ عمل په دلیل کې وړاندی سی نویوواده هم بایدونه سی عیسی علیه السلام اسمان ته ترپورته کیدومخکې واده نه دی کړی مگر له راښکته کیدو ... لکه چې په احادیثو کې راغلي دي

سيف لودين كتابتون

لنډه داچې دیهودو اونصاراوو علماء ته دمذهب په لحاظ دډیروودونوپه کولوباندی دسوال هیڅ حق نسته کله چې دین اسلام راغلی نودین اسلام دودونوخپله اندازه وټاکله چې ترڅلوربه زیات نه وی ځکه په نکاح سره مقصدد سړی فرج خوندی ساتل دی یعنی پاک لمنی اودزناله شرڅخه خوندی کیدل مقصود وی په څلوربنځوکې چې کله اسلامی قوانین مراعت سی اوله دوئ سره عدل وسی نوددوئ په حقوقو کی هیڅ زیان نه راځی

دتیرمخ حاشیه

(۱) دیوی ښځی لپاره دډیرو مړویاخاوندانو کول ناروا دی دناروالی وجه:

(۱) که یوه ښځه دڅونارینه وو ترمنځ ګډه سی نودنکاح دمستحق کیدوله کبله به هریودخپلی اړتیاپوره کولو مستحق وی اوپه دې کې داویره سته چې فساداوجنګ جګړی ته به خبره ورسیږی ځکه په یوه وخت کې دټولو داړتیاپوره کول ناشونی کاردی کیدای سی خبره قتل ته ورسیږی

(۲) اوبل داچې دنارینه فطرت حاکم وی اوښځه محکومه ځکه دطلاق واک یواځی نارینه ته دی ترڅو چې نارینه طلاق ورنه کړی ښځه دبل سړی سره نکاح نه سی کولای لکه څنګه چې مینځه اومریئ په خپله نه سی ازادیدلای ترڅوچې دمالک له لوری دته ازادی ورنه کول سی دغه رنګه ښځه هم پرته دسړی له آزادیدوپه خپله له نکاح ځان نه سی خلاصولای ترڅوپوری چې طلاق سوی نه وی په مریانوکې آزادیدل دی اوپه ښځوکې طلاق دی نوکه چیری دیوی ښځی ډیر مړونه وی یعنی ډیر حاکمان اوواکمن یې او څومره چې حاکمان ډیریږی هغومره په محکوم ذلت اوسپکاوی راځی دیوه حاکم ترلاس لاندی په سلهاووزره خلک وی مثلادیوه پاچاترلاس لاندی په ملیاردوخلک وی اوهغه ټول خلک دباچارعیت وی په دې کې ذلت اوسپکاوی نسته اونه کوم تکلیف ځکه حاکم یودی مګر که محکوم یوسی اوحاکمان ډیر سی نوڅومره چې حاکمان ډیریږی هغومره به محکوم ذلیل اوسپک کیږی نوله دې معلومه سوه چې دیوی ښځی دډیرومړونوکول اوترډیرولاندی اوسیدل دښځی لپاره ډیر سپکوالی اوډذلت سبب دی اوبل داچې دمړونوخدمت کول اوټول خوشاله کول دمنلووړخبره نه ده ځکه په شریعت اسلامی کې یوی ښځی ته ددوو ۲ یادریو ۳ یاتردې زیاتومړونوسره واده کول نه دې راسوی ددې لپاره چې ښځه له ذلت اوسپکوالی څخه خلاصه سی اوله داسی تکلیف چې دزغمولووړنه وی خوندی سی اوبل دانه دی معلوم چې دیوی ښځي داڅلور مړونه یاخاوندان به په یوه کورکې اوسیږی اوکه په بیلوبیلو کورونوکې اوسیږی په یوه ښارکې به وی اوکه به په مختلفوښاروکې وی اودایوه ښځه به دڅلورمړوخدمت څنګه کوی کومی ښځي چې دډیرمړونودجواز منونکي دی هغوئ دی ددی تیرو درې سوالوځواب ورکړی:

(۳) اوبل داچې که دیوی ښځی ډیرمړونه وی نوددډیرومړونوله اړیکوچې کوم اولادپیداسی هغه به دکوم یوه وی، آیادټولوبه وی، اوکه به ویشل کیږی، اوکه ویشل کیږی مثلایوهلک دی دڅلورپلرونوپه مینځ کې به څنګه ویشل کیږی اوکه ډیر اولادونه وی نوڅنګه به ویشل کیږی ځکه داولادوترمینځ ډیر توپیروی نارینه اوبل ښځینه اختلاف دی دشکل اوصورت توپیردی دښواخلاقواوسیرت توپیردی اودقوت اوهمت توپیرراځی دپوهی اوهوښیارتیاتوپیرراځي داټول توپیرونه سره برابرول هیڅ ممکن نه دی څوک چې ددې توپیرونو ته ښه په غوروګوری نوددې اختلاف په وجه داولادوویشل ډیر ګرانیږی اودانه دی معلوم چې دخپل مینځی جګړی به کوم صورتونه پیداکیږی،، اوبل داچې داولادپه مینه کې توپیرراځي مثلادیوه زوی په لیدوپلار دومره نه خوشاله کیږی لکه څومره چې دنوروپه بیلوالی سره خفه کیږی خدای خبرچې څنګه فتنی به پیښې سی هرڅنګه چې وی په دې نظام کې دبربادیو دروازی خلاصیږی ځکه په شریعت اسلامی کې دیوی ښځی لپاره دډیرومړنوکول نه دی رواسوی ،،،، دهندوانوپه یوشمیرقوموکې دیوی ښځی له پنځومړونوسره واده کول روادی ددې بی غیرتوسره هیڅ احساس نسته چې یوه ښځه کله له یوه سره اوکله له بل سره یوځای کیدل سراسربی غیرتی اوبی حیایې ده اسلام دعزت اوپاک لمنی اووقاردین دی په دین اسلام کې دداسی بی غیرتو هیڅ ځای نسته که یوه ښځه هم همداسی بی احساسه اوبی غیرته اوله اسلامه ووزی نوهغې ته دخپل ځان واک دی دهندوانوپه څیرکه ودې ته پنځه تنه رسیږی اودوئ داومنی نوودې کوی دټولوانبیاء علیهم السلام په منل سوی حکمتوکې یوحکمت دادی چې دوئ وایې (اذافاتک الحیاء فاصنع ماشئت) کله چې له تاڅخه حیا لاړه شي ولاړسي نوڅه چې ستاخوښه سي هغه کوه (والسلام)

سیف لودین کتابتون

په دین اسلام کی ډیر دعدل اوبرابری اوانصاف لحاظ ساتل سوی دی نه خود جاهلیت په څیر د نامعلوموښځو اجازه ورکول سوی ده چی په دې کی دشهوت فرستی دروازه خلاصه سی اونه یې دومره تنګی کړی چی تریوی زیاته اجازه نه ورکوی بلکې میانه روی یې کړی ده چی ترڅلوروپوری اجازت ورکړی دی ددی ډیر لاملونه یو څوبه یې موږ ته دربیان کړو :

(۱) دنکاح هدف اومقصدپاک لمنی اودفرج ساتل اودنسل اواولاد په اسانۍ سره حاصلول اوله زنااوبدلمنۍ څخه خوندی کیدل ځکه قدرتاً یوشمیرخلک داسی قوی اوجوړروغ اوخوشاله پیداسوی وی چی ددوئ لپاره یوه ښځه بسنه نه کوی اودقوت اوتوان له کبله اوبیادخوشالۍ اوشتوله کبله ددویمی نکاح څخه دمنع کولوپایله به داوی چی دوئ خوبه تقوی اوپرهیزګاری اوپاک لمنۍ پریږدی اوپه بدلمنی اوبدوکاروبه اخته کیږی ، بلکې داسی توانمند اوشمتن خلک چی دوئ په ملیاردو اوسلهاووزره شتمنی لری که دوئ دخپل کورڅلور غریبی ښځی له دې کبله په نکاح کړی چی ددوئ لاس تنګی دی اوله غربته یې رواباسی اوراحت اوآرام ته یې راولی اودالله تعالی ددې نعمت شکرآداکړی نوامیدشته چی داسی نکاح به داسلام له نظره عین عبادت وی اودخلکوپه نظربه هم داډیر میړانه وی اودقومی همدرۍ ثبوت به وی دکوم شتمن اوسرمایه دار له خزانی چی هره میاشت لس زره مزدوران اولس زره کورونه نورپالل کیږی نوکه شمتن دخپل کورڅلورښځی هم ددوئ دعزت اوناموس ساتنه له کبله ددې شتمن په حرم سرای کې داخلی سی اوپه آرام اوهوساخپل ژوند تیرکړی نودابه عقلاً اونقلاً هیڅ بدکار نه وی بلکې که یوپاچادهیواد مشریاوزیریاشتمن ناروغه سی اوبیاپه اخبارکې دااعلان ولیکی چی زه دڅلورو ښځوسره واده کول غواړم اوهری ښځی ته به سل زره روپۍ ولور ورکوم اودهری ښځی مانۍ به بیله بیله وی کومه ښځه چی له ماسره واده کول غواړی هغه دې ماته خپله غوښتنه راولیږی نوترټولومخکې به دهغه ښځوغوښتنی ډیر ی وی کومی چی دډیروښځوکولوپه مسئله باندی ګوت نیونه کوی دادغرب پالل سوی ښځي به ترټولومخکې خپل ځانونه اوخپلی لونۍ اوخوندی اوخورزیګانی وړاندی کوی اوپاچایاامیریاوزیریاشتمن ته به یې سپاری کیدای سی چی دوئ دومره ګڼه ګوڼه جوړه کړی چی هغه سړی دنظم لپاره پولیس راوغواړی اوکه یوامیریاوزیر ودې غرب نظروته ونه ګوری نوهمدادوئ به په زړه رانښکونکی لاری سره هغه امیران اووزیرانوته دډیروودو کولوګټی اوفایدی په ګوتو شمیری ..

اوبل داچی ښځه هروخت ددې وړنه وی چی میړه له دې هروخت ګټه واخلی ځکه لومړی خوپه هره میاشت کې وښځي ته شپږیااوه ورځی خپل عادت کالی راځی چی په دغه شپو او ورځوکې دسړی پرهیزکول لازمی دی

سیف لودین کتابتون

دویم داچې دحمل په وخت کې دښځې اوسړي یوځای کېدل په دې وجه پرهیزضروري دی چې دماشوم په صحت باندې بداثرونه لوېږي دریم داچې ډېرځله یوه ښځه دناروغۍ له امله یادا ولادنه راوړلو له کبله یادناروغي له وجې ددې قابله نه وي چې سړی دې له هغې ګټه واخلي نوپه داسې صورت کې دسړي له زناڅخه دخوندي کېدوعقلا تردې بل غوره صورت نسته چې هغه ته ددویمې نکاح اجازه ورکړل سي که داسې ونه سي نودخپل خواهش دپوره کولو لپاره هسې نه چې ناروا لاري چاري وکاروي ..

دیوه سپین ږیري سړي ښځه ړنده سوه نوهغه دویم واده وکی ددې لپاره چې دزړې ښځې خذمت وکوي . دایوه پېښه وه ، نودغرب ځناورهوښیاران دي ووایې چې که دیوسړي لومړنۍ ښځه ړنده سي اوهغه بله نکاح وکړي ددې لپاره چې ځوانه ښځه دزړې ښځې خذمت وکوي اودهغې دبچیانوپالنه وکوي نوآیاادویم واده عین انسانیت نه دی

اوبل داچې ډېر وخت دناروغۍ له کبله یادشنډیدو په وجه دښځې اولادنه کېږي اودسړي دخپل نسل دپاته کېدوخواته طبعي مینه وي په داسې صورت کې ښځې ته پرته له وجه طلاق ورکول اوهغه پرېښودل اوبېلول اویاپرهغې باندې تورپوري کول اوطلاق ورکول لکه چې شپه اوورځ په غرب اواروپاکې داکارکېږي ښه دی اوکه داصورت ښه دی چې هغه ښځه اوددې حقوق په خپل حال پاته سي اومېړه ته دبل واده اجازه ورکول سي ته راته ووایه اې غربي میزاجه چې کوم صورت غوره دی که یوقوم اوقبیله خپل شمیرزیاتول غواړي نوددې غوره لاره همداکېدای سي چې یوسړی ډېر ودونه وکوي ددې لپاره چې اولادونه زیات پیداکي دجاهلیت په وخت کې به فقیرانودفقراولوږې له ویرې خپلې لوڼې ژوندۍ ښخولې خودننۍ زمانې دتمدن اوپرمختګ په وخت کې داولاددبندلودرمل جوړسوي دي چې په دې سره دننۍ زمانې اخلاق دجاهلیت تراخلاقوهم مخکې ولاړل په خپل فکرسره یې دنسل وژنې اوزنااوبدکارۍ یوه عجیبه طریقه ایجادکړه چې تراوسه دچاپه فکرکې هم نه وو تیرسوې

له تجربې اوسترګولیدنې اودسرشمیرنې څخه معلومېږي چې دښځوشمیرقدرتًا تل ترنارینه وو زیات وي چې هغه په قدرتي ډول باندې دډېروودونو کولویوښکاره دلیل دی نارینه دښځوپه پرتله ډېر لږ پیداکېږي اوډېرمړه کېږي په سلهاووزره په جنګ جګړوکې وژل کېږي اوپه زرهاوپه الوتکواوبېړیوکې ډوبېږي اوپه زرهاوو نارینه دکانونواوزیرموپه راایستلوکې وژل کېږي اوپه یوشمیرنورو ډېروشاقه کاروکې وژل کېږي اوښځې ډېر پیداکېږي مګر لږمړې کېږي نوکه یوسړي ته دډېروودواجازه ورنه کړل سي نودا زیاتې ښځې به بیخي بېکاره پاته سي هیڅوک به ددوئ دژوند کفیل اوذمه واربه نه وي اوڅنګه به دوئ خپله فطري غوښتنه ترپښولاندې کړي اوځانونه به له زنااوبدکار

سیف لودین کتابتون

ی وساتی نو که ده ډیرو ودونو اجازه ورکړل سی اوددوئ د ناموس او عزت ساتنه وسی نو همدایې یوائځنی لاره ده اوددوئ دځان او عزت دساتلو پرښځو باندی داسلام ددې احسان شکر واجب دی چی تاسویې له تکلیف څخه خوندی کړلاست او آرامی یې درته راوستله او ځای یې درکی او دخلکو له تهمت او بدګمانی څخه یې تاسو خوندی کړلاست په نړی کې چې کله لوی جنګونه پیښیږی نو نارینه زیات پکې وژل کیږی او په قوم کې دبې سرپناه ښځو شمیر زیاتیږی نو په دغه وخت کې دقوم دغمخوارو خلک دې واسلامی اصولو ته وګوری له نن څخه پنځه ویشت کاله مخکې خبره ده چی کله دجنګ جهانی ورروسته جرمنی او نورو اروپایې هیوادو دکومو په مذهب ډیموکراسی کې چې دډیرو ښځو سره نکاح کول روانه بولی کله چې دوئ دابې سرپناه ښځې ولیدی نو په خپل مینځ کې ودې پریکړې ته تیار سو چې باید نارینه ډیرودونه ولری خو په ژبه یې څه ونه ویل کوم خلک چې ډیر ودونه نه خوښوی موږ له دوئ څخه داپوښتنه کوو چی کله په هیوادکې ښځې په سلها وو زره ترنارینه وو زیاتی وی نوددوئ دفطری او طبعی جذبات اوددوئ دژوند دارتیاوو دپوره کولو لپاره تاسو سره څه ځواب سته او تاسو ددې بې سرپناه او بې مرستندویه ښځو دغم لیری کولو لپاره کوم قانون جوړ کړی دی ،، مولانا اشرف علی تهانوی قدس الله سره په المصالح العملية لومړی جلدکې لیکلی دی وایې : په تیره سرشمیرنه کې دخلکو په پرتله په بنګال کې دنارینه او ښځو شمیرته وګورو نودا به راته معلومه سی چی دښځو شمیر ترنارینه وو زیات دی چی داپه قدرتی ډول باندی په ډیرو ودو کولو باندی یو ښکاره دلیل دی دچاچی شک وی هغه دی بیل بیل دنارینه او ښځو سرشمیرنه په حکومتی پاڼو کې وګوری او دهند په سرشمیرنه کې دښځو شمیر ترنارینه وو زیات دی او موږ که اروپا او امریکا او نوری غربی نړی ته وګورو کوم چې دډیرو ودونو کول نار وا بولی هلته هم دښځو شمیر ترنارینه وو زیات دی

لکه لویه برطانیه دبوئیرون دجنګ پرمهال په برطانیه کې دولس سوه نه شپیته زره درې سوه پنځوس ۱۲۶۹۳۵۰ داسی ښځې وی چی هیڅ نارینه ورته نه پیدا کیدی

او په فرانسه کې دکال ۱۹۰۰ میلادی په سرشمیرنه کې دښځو شمیر ترنارینه وو څلورلکه دروېشت زره او وه سوه ۴۲۳۷۰۰ ښځې پرنارینه وو زیاتی وی او په جرمنی کی دکال ۱۹۰۰ میلادی په سرشمیرنه کی دهرزور نارینه وو لپاره یوزر دوه دیرش ښځې وی نو په ټوله آبادی کې اته لکه اووه اتیا زره شپږ سوه ۸۸۷۶۴۸ ښځې زیاتی وی له دوئ سره دواده کولو هیڅ نارینه نه وو په سوډان کې دکال ۱۹۰۱ میلادی په سرشمیرنه کی یولک دولس زره اته سوه ۱۱۲۸۰۰ ښځې زیاتی وی او په استرالیا کې دکال ۱۸۹۰ دسرشمیرنی په شمیر شپږ لکه څلورڅلویښت زره اووه سوه شپږ نیوی ۶۴۴۷۹۶ ښځې ترنارینه وو زیاتی وی

سیف لودین کتابتون

اوس موږ پوښتنه کوو چی ای غربیانو اوغربی مزاجو خلکو تاسو په دې فخر کوی چی موږ ډیر ودونه بد ګڼو خو داراته ووایاست چی دد ې ښځو چی لږترلږه څلویښت لکه ....۴۰۰۰۰۰ ښځی کیږی ددوئ لپاره مو کوم روا قانون جوړ کړی دی ځکه دیوه واده کولو په قانون سره خو ودې ښځو ته میړه نه سی پیدا کیدای زموږ پوښتنه داده چی کوم قانون چی دانسان دارتیاوو لپاره جوړیږی هغه دانسانی اړتیاوو برابر په کار دی یا نه دی هغه قانون چی دډیرو ودونو منع کوی هغوئ دې څلویښت لکه ښځو ته دا ووایې چی تاسو دخپل فطرت خلاف لاره ووهی اوتاسو له خپلو زړو څخه دنارینه وو مینه وباسی مګر داخو نه سی کیدای لکه چی په خپله تجربه ددی شاهدی ورکوی نو پایله به یې داوی چی دناروا طریقو په بندولو سره به دوئ ناروا طریقه خوښوی اوپه دې طریقه به په دوئ کې زنا ډیره سی اوداد دډیرو ودونو دمخالفت تنیجه اوپایله ده اوداخبره چی په دې کار سره به زنا زیاتیږی هسی خیال نه دی بلکې ربښتینی خبره ده لکه چی اوس هم په سلهاوو زره حرامیان هرکال په غرب کې پیدا کیږی له دې څخه ثابته سوه چی دا کار تاسو په لوی لاس له دې کبله کوی چی په دین اسلام کې څلورو ودونو ته اجازه ورکول سوی ده تاسو ددې پرضد ولاړ یاست اوددویم واده هم اجازه نه ورکوی اوتاسو ته یې ګټه هم رسیږی دمولانا اشرف علی تهانوی خبری پای ته ورسیدی ..

افسوز او سل زره واره افسوز ای دغرب ځناورانو !

ای دغرب پلویانو تاسو داسلام پر دې روا او معقوله لاره دعیش خوښونی تور لګوی او په ښوونځیو او روغتونو کې په ناروا اړیکو او پرته له نکاح اشنایی او اړیکی تهذیب او پرمختګ بولی ، زنا دټولو انبیاء علیهم السلام په شریعت کې حرام ده او دټولو حکماء په نظر ډیر بد او شرمناک کار دی دغرب او اروپا په ډالرو مست دعوه کونکي ودې بد او ناروا کار ته ښکاره روا وایې او دډیرو ودونو کولو ته چی دټولو انبیاء علیهم السلام او دټولو پوهانو او حکماء په نظر روا او غوره کار دی تاسو ورته بد وایاست ددې پرمخ تللیو قومو لکه امریکا او اروپا او ډیموکراسی ددین دپلویانو په نظر خو دا لویه ګناه ده او زنا او بدکاری او له پردو ښځو سره پیژندګلوی هیڅ ګناه نده ددې پرمخ تللی قومو کې خو دډیرو ودونو دمنع قانون اجراء سوی دی مګر دزنا دمنع قانون خو پریږده په اوسنی وخت کې خو زنا دقانون بڼه غوره کړی ده

دډیرو ودو دروا والی اصلی لامل دادی چی ډیر ودونه دعفت او پاک لمنۍ او پرهیزګاری په خیر لوی نعمت او له بدو خویو څخه دساتنی یوائخنی لاره ده کوم خلک چی دډیرو ودونو مخالف دی تاسو ددوئ غوښتنی او کارو ته وګوری دوئ خو په ژبه سره دپاکو او روا ودونو لکه کولو منکر دی خو دوئ په عملی ډول په ډیرو ناپاکه ودونو یعنی

سیف لودین کتابتون

زنا او بدکارۍ اخته دي د دوئ د نفس غوښتنو دا ثابته کړه چې د نارينه په فطرت کې د ډيرو ښځو رنګارنګ هيلۍ شته که داسې نه واى نو په خپله ښځه به يې بسنه کړې وه او الله ﷻ خو حکيم او عليم ذات دى په خپل رااليږل سوى قانون کې د انسانانو د ډيرو غوښتنو او د نفسه ميلان رعايت يې وکړ او داسې قانون يې پلې کړ چې هغه بيلا بيل طبيعتونه د پاک لمنۍ او پرهيزګارۍ په دايره کې ساتلاى سى نه يې څوک مجبوره کړى دى پر نکاح کولو او هم يې د څلورو ښځو د نکاح کولو اجازه ورکړې ده

رسول الله صلى الله عليه وسلم ولى ډير ودونه کړي دي ؟

د رسول الله ﷺ د راتلو هدف او مقصد دا وو چې خلک د بربادۍ او هلاکت له کندى را وباسى د دې لپاره يې يو پوره قانون يعنى قرآن نازل کړ چې ترده وروسته و هيڅ قانون ته تر قيامت پورې اړتيا نه پاته کيږى او دويم دا چې د نبى کريم ﷺ ټول ژوند د خلکو لپاره د انسانيت يوه نمونه وه چې هغه ته ګورى او عمل کوى ځکه يوائې قانون د خلکو د سمون لپاره کافي نه دى ترڅو چې کومه عملي نمونه مخ ته نه وى چې هغه خلک ځان ته مائل کړى او دنيا دا وويني چې د الله ﷻ نبى ﷺ چې کوم شئ ته بلنه ورکړې وه د هغه په وينا او عمل کې يوه زره اختلاف نسته لکه چې الله تعالى فرمايي ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ (۲۱ آيت سورة الاحزاب)

دانسانى ژوند دوه اړخونه دى !

د هر انسان د ژوند دوه اړخونه وى يو باندنى او بل د ننه د چاد عملى حالت د سم اندازه کولو لپاره دا ضرورى دى چې د هغه سړى د دواړو اړخو حالات ښکاره بيان سى
د باندى ژوند د هغه حالت نوم دى کوم چې انسان يې د عامو خلکو په مخکې تيروى د دې برخې په اړه د انسان پوره حالات د معلومولو لپاره ډير شواهد غوښتل کيداى سى.
او د کورنۍ ژوند څخه په کورنۍ کې د ننه ژوند مراد دى چې په هغه سره د انسان د خوى پيژندنه ښه کيدلاى سى هر سړى د خپل کور په چارديوالى کې آزاد دى او د خپلى ښځى او کورنۍ له غړيو سره مکلف نه وى د انسانى خوى او عمل کمزورتيا د کورنۍ څخه پټه نه وى نو په داسې صورت کې د انسان د ښه ژوند د معلومولو کولو لپاره تر ټولو غوره دا دى چې د هغه کورنۍ حالات د نړۍ ومخ ته وړاندى سى.
د غه شان د رسول الله ﷺ د ژوند هم دوه اړخونه دى يو باندنى اړخ او بل کورنۍ ژوند د باندنى ژوند حالات خو ټول صحابهٔ کرامو ؓ و دنيا ته ورسول چې د دې مثال په هيڅ ملت او مذهب کې نسته او هيڅ يوه امت هم د خپل نبى ؑ د ژوند حالات په داسې تفصيل او تحقيق او ښه خيړنه سره نه دى خپاره کړى داسې خوځه کوى د دې لسمه برخه يې هم دنيا ته نه دې وړاندى کړى..

سیف لودین کتابتون

او دکورني ژوند حالات بيا امهات المؤمنين رضی الله تعالی عنهن یعنی دنبی کريم ﷺ بیبیانو دنیاته وړاندی کړه چی په دې سره په کورکې دنبی کريم ﷺ دتهجد لمونځ او دشپی ړنول اوفقيرانه ژوند او عاجزی اوغوره اخلاق دکور ټول حالات يې ددنیامخ ته راغله چی په دې سره دنبی کريم ﷺ له الله ﷻ څخه ویره اوربښتینولی او پاک لمنی درڼاورځی په څیرښکاره سو چی دشپی په تیاروکې چی کله پرته له عالم الغیب خدایه ﷻ بل هیڅوک لیدونکي نه ووهغه مبارک ﷺ به څرنګه دیوه الله ﷻ عبادت په ډیره مینه اوخوند سره کوی چی ددې لپاره سورة مزمل ښه عادل شاهد دی

له همدی کبله يې له ۱۱ یوولس میرمنو سره نکاح وکړه !

رسول الله ﷺ له خدیجة الکبری ﷺ پرته له لسوښځو سره نکاح وکړه ددې لپاره چی دښځیو لویه ټولی دنبی کريم ﷺ کورنی ژوند دنیاته وړاندی کړی ځکه ښځه چی څومره دخاوند په رازو خبره وی بل څوک هیڅکله دومره نه سی خبریدلای له دې کبله نبی کريم ﷺ ډیر ودونه وکړه ددې لپاره چی دده مبارک ﷺ دکورنی ژوند ټول حالات په ډیر باور سره دنیاته ښکاره سی او دیوه لوی جماعت له شاهدی وروسته هیڅ شک اوشُبه پاته نه سی او دشریعت هغه احکام اومسائل چی هغه خاص دښځوسره تړاولری اونارینه يې په بیانو ولو بیانولوشرمیږی دداسی احکاموشرعیه وورسول دبیبیانو رض په ذریعه وسی اودنبی کريم ﷺ دډیرو ښځوسره واده کول معاذالله دنفس دخوشالولو لپاره نه وو ځکه نبی کريم ﷺ پرته له یوه واده نورټول ودونه له کونډوسره کړی دی چی هغه نه دځپل ښائست په وجه مشهوره وی اونه دمال ادشتمنی په اعتبارسره بلکې معامله ددې پرخلاف وه اونه له نبی کريم ﷺ سره کوم دعیش اوعشرت سامان وو بلکې یوائني هدف يې داوو چی دښځوپه اړه چی دشریعت کوم احکام دی هغه دښځوپه ذریعه وامت ته وسیږی اودبیبیانو رض حجری په حقیقت کې دامت دمورانو اوښوونکومدرسی وی دکوم مبارک ذات په کورکې چی دوې دوې میاشتی اورنه وی بل سوی اوپه اوبواوخورمابانذی دده مبارک ﷺ اودده دبیبیانو رض ګزاره وی اودچاچی ورځ په مسجداوشپه په ولاړه په لمانځه باندی تیریږی اودالله ﷻ مخ ته په دریدوباندی يې پښي پړسیږی هلته دعیش اوعشرت تصور کول هم ناممکن اومحال دی.

درسول الله صلی الله علیه وسلم اولادونه !

درسول الله صلی الله علیه وسلم داولادو په هکله خبری مختلفی دی ترټولوډیر دباور وړ اوپه سند رسیدلی خبرداده چی درې زامن اوڅلورلوڼی يې وی

قاسم ، عبدالله ، چی دطیب ، اوطاهرپه نامه سره هم یادیدل (ابراهیم ، زینب ﷺ رقیه ﷺ ام کلثوم ﷺ فاطمة الزهراء ﷺ دلوڼوپه هکله خوهیڅ اختلاف نسته په اتفاق سره څلوروی

سیف لودین کتابتون

او څلورسره لوياني سوي دي اوواده سوي دي او اسلام يې راوړی دی هجرت يې کړی دی دابراهيم په هکله هم اختلاف نسته دئ هم په اتفاق سره دنبي کريم ﷺ دمنيځی ماريه قبطيه رضي الله عنها له نس څخه وو او په کوچنی والی کې وفات سوی دی،

اوله ابراهيم پرته نور ټول اولادونه دخديجة الکبری رضي الله عنها له نس څخه سوي دي له بلی يو ښځي څخه هم دنبي کريم ﷺ اولادنه دی سوی

دخديجة الکبری رضي الله عنها له نس څخه چی څومره هلکان پيداسوی دی هغه ټول په کوچنيوالی کې وفات سوی دی ځکه ددوئ په شميرکې اختلاف دی دسيرت دجمهورو علماء خبره داده چی دخديجة رضي الله عنها له نس څخه دوه زامن پيداسوی دی يوقاسم اودويم عبدالله اودعبدالله دويم نوم طيب اوطاهر هم وو يوشميرخلک بياوايې چی طيب اوطاهردنبي کريم ﷺ دوه نورزامن وه چی له قاسم اوعبدالله پرته نور دوه دی ددې خبری پربنيادباندی دخديجة الکبری رضي الله عنها له نس څخه دهلکانواوانجونوشميربرابريږی څلورهلکان اوڅلورنجونی سوی يوشميرنورېياوايې چی دخديجة الکبری رضي الله عنها له نس څخه شپږزامن پيداسوی دی دپنځم اوشپږم نمونه مطيب اومطهروو والله اعلم (زرقانی جلد ۳ /ص /۱۹۳)

لومړی : قاسم رضي الله عنه

دنبي کريم ﷺ په اولادوکې ترټولومخکې قاسم پيداسوی دی اوترنبوت مخکې پيداسوی دی دوه کاله ژوندی وو اوديوشميرخلکوخبره داده چی دلوی والی وخت ته ورسيدی خوبيا وفات سو اودرسول الله ﷺ کنيت ابوالقاسم هم دده په نسبت سره وو (زرقانی جلد ۳ /ص /۸۹۴)

دويم زينب رضی الله تعالی عنها !

زينب رضي الله عنها درسول الله ﷺ په لوڼوکې دټولوپه اتفاق سره مشره وه ترنبوت لس کاله مخکې پيداسوی ده او اسلام يې راوړی دی اودبدرڅخه وروسته يې هجرت کړی دی دخپل اکازوی ابوالعاص بن ربيع سره يې واده سوی دی دزينب رضي الله عنها دهجرت پوره بيان دبدردبنديانوپه بيان کې تيرسوی دی داتم ۸ هجری کال په پيل کې وفات سوه يوهلک اويوه انجلۍ يې پاته سوه دهلک نوم علی اودانجلۍ نوم امامة وه دعلی په اړه روايتونه مختلف دی مشهوره خبره داده چی دلوی والی وخت ته ورسيدی اودخپل پلارابوالعاص رضي الله عنه په ژوندکې وفات سو اويوشميرنور بياوايې چی ديرموک په غزاکې شهيدسوی دی

امامه رضي الله عنها سره به رسول الله ﷺ ډيره مينه اومحبت کوی امامه رضي الله عنها له نبي کريم ﷺ سره ډير اشناوه په يوشميروختوکې به نبي کريم ﷺ په لمانځه وو داپه اوږه ورختله اونبي کريم ﷺ په آرام سره بيرته کښته کړه (کما اخرجه البخاری ومسلم)

يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يوچاپه ډالۍ کې اميل راوړی په همدې وخت کې ټولی بی بيانې رض سره يوځای وی اوامامه رضي الله عنها دکورپه يوه کونج کې په خاوروکې لوبې

سیف لودین کتابتون

او بازی کولی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی دا امیل زه دکورتر ټولو محبوب ترین چاته ورکوم ټولو ګمان وو چی عائشه صدیقه رضی الله عنها ته به یې ورکوی مګر رسول الله ﷺ امامه رضی الله عنها راوغوښته اولومړۍ یې دهغې سترګی په خپل لاس مبارک پاکی کړی او بیایې هغه امیل ورپه غاړه کی (اخرجه ابن سعد واحمد وابویعلی بسند حسن عن عائشة صدیقة رضی الله عنها)

دفاطمی له وفات وروسته امامه رضی الله عنها له علی رضی الله عنه سره نکاح وکړه کله چی علی رضی الله عنه شهید سو نو مغیره بن نوفل ته یې وصیت کړی وو چی ته له امامه رضی الله عنها سره نکاح وکړه یو شمیر نور بیا وایې چی دمغیره رضی الله عنه له امامه رضی الله عنها څخه یو هلک پیدا سوی دی چی دهغه هلک نوم یحی وو او یو شمیر نور بیا وایې چی دامامه رضی الله عنها هیڅ اولاد نه دی سوی او امامه رضی الله عنها دمغیره رضی الله عنه په نکاح کې وفات سوی ده (۱)

دریم رقیه رضی الله تعالی عنها

رقیه رضی الله عنها او ام کلثوم رضی الله عنها دنبی کریم ﷺ هغه دوې لوڼی دی چی لومړۍ یې دابولهب زامنو ته ورکړې وې رقیه رضی الله عنها یې عتبه بن ابی لهب ته (۲) او ام کلثوم رضی الله عنها یې عتیبه بن ابی لهب ته ددوئ نکاح ورسره تړل سوې وه مګر واده سوی نه وی کله چی (تبت یدا ابی لهب وتب) سورة نازل سو نو ابولهب دواړه زامن راوغوښتل او ورته وې ویل چی اې زامنو که تاسو د محمد ﷺ لوڼو ته طلاق نه ورکوی نو په وه سی چی له تاسو سره زما خوب او ناسته حرامه ده دواړه زامنو د خپل د پلار خبره ومنله او تر واده کولو مخکې یې دنبی کریم ﷺ دواړه لوڼو ته طلاق ورکې رسول الله ﷺ رقیه رضی الله عنها عثمان غنی رضی الله عنه ته په نکاح ورکړه عثمان رضی الله عنه چی کله حبشه ته هجرت وکی نو رقیه رضی الله عنها هم ورسره ملګری وه تر څه وخته نبی کریم ﷺ ددوئ په اړه څه خبر نه درلودی خو بیا یوه ښځه راغله او هغې دا خبر راوړی چی ما دوئ دواړه ولیدل نبی کریم ﷺ وفرمایل (صبحهما الله ان عثمان اول من هاجر باهله بعد لوط (رواه ابن المبارک وغیره) الله تعالی دې له دواړو سره وی ربښتیا هم عثمان رضی الله عنه دلوط علیه السلام څخه وروسته لومړی سړی دی چی دخپلی کورنۍ سره یې هجرت کړی دئ

کله چې دوئ په حبشه کې وو نو ماشوم یې پیدا سو دهغه نوم یې عبدالله ایښوودی شپږ کاله ژوندی وو بیا وفات سو

کله چی رسول الله ﷺ دبدر غزا ته روان سو رقیه رضی الله عنها ناروغه وه ځکه عثمان غنی رضی الله عنه دبدر په غزا کې شریک نه سو عثمان رضی الله عنه ددې په خدمت بوخت وو او په کومه ورځ چی زید بن حارثه رضی الله عنه داسلام دبری اودمشرکینو دماتې زیری مدینې منوری ته راوړی رقیه رضی الله عنها وفات سوې وه درقیه رضی الله عنها دناروغۍ له کبله اسامه بن زید رضی الله عنه هم په بدر کې ګډون ونه کی صحابه کرام

(۱) زرقانی جلد ۳/ص/۱۹۵)

(۲) عتبه دمکې په فتح کې په اسلام مشرف سو او عتیبه کافر مړسو)

سیف لودین کتابتون

ﷺ دنبي کريم ﷺ په لور خاوري اړولي چې ناڅاپه دتکبير آوازونه واوريدل سو عثمان ﷺ پوښتنه وکړه چې اې اسامه ﷺ دا څه پيښه ده ته ګوري چې زيد بن حارثه ﷺ د رسول الله ﷺ په اوښه سپوري دی او د مشرکينو د ماتې زيرې يې راوړی دی رقيه ﷺ دوفات په وخت کې دشلو کالو وه (۱)

څلورم ام کلثوم رضی الله تعالی عنها!

ام کلثوم ﷺ يعنی دکلثوم مور په ښکاره خو دا لقب معلوميږي مګر ددې اصلي نوم همدا وو له دې پرته ددې بل نوم نه دی ثابت سوی د رقيه ﷺ له وفات وروسته دهجرت په دويم کال دلومړي خور په مياشت کې له عثمان ﷺ سره نکاح وکړه شپږ کاله له عثمان ﷺ سره وه او هيڅ اولاديې نه دی سوی دهجرت نهم کال دبرات په مياشت کې وفات سوله رسول الله ﷺ دجنازې لمونځ پرکړی دی علي ﷺ او فضل بن عباس ﷺ او اسامه بن زيد ﷺ قبر ته کښته کړه رسول الله ﷺ دقبر پرغاړه ناست وو او له ستر ګويې اوښکې رواني وې (۲)
ام کلثوم ﷺ خو لومړئ دابولهب زوی عُتَيبَه ته په نکاح سوې وه خو دپلار په ويناپې هغې ته طلاق ورکی طلاق خو بل زوی عبته هم رقيه ﷺ ته ورکی مګر عتبيه يوائحې په طلاق بسنه ونه کړه بلکې راغلی او نبي کريم ﷺ ته يې داسې وويل :
زه ستادين نه منم ، او ستالورته مې طلاق ورکړی دی . هغه مانه خوښوی او زه دانه خوښوم ، او تر خبرو وروسته يې په نبي کريم ﷺ باندې حمله وکړه او دنبي کريم ﷺ قميص مبارک يې څيرې کی رسول الله ﷺ عتيبه ته ښيرا وکړه وې فرمايل چې يا الله ﷻ پرده باندې يوه درنده له خپلو درند ګانو مسلط کړې ،، يوه ورځ دقريشو تجارتي قافله شام ته روانه سوه دزرقاء په نامه ځای کې پړاو واچوی ابولهب او عتيبه هم په دې قافله کې وو کله چې شپه سوه يو زمرئ راغلی قافلې ته هغه زمري به دخلکو مخ ته کتل او بوئ کول به يې کله چې عتيبه ته راورسيدی نو سمدستی يې دهغه سرتير کي دعتيبه په همدې حالت کې ساه ووتله او زمري ورک سو هيڅاهم ونه ليدی پوره بيان به ان شاء الله تعالی دمعجزو په بيان کې راسي (۳) ام کلثوم ﷺ چې کله وفات سوه نو رسول الله ﷺ داسې وفرمايل چې که زما لس لوڼې نورې هم وای نو يوه تر بلې وروسته به مې عثمان ﷺ ته په نکاح ورکولې (رواه الطبراني منقطع الاسناد (۴)

(۱) الاصابه جلد ۴ /ص / ۳۰۴)
(۲) زرقاني جلد ۳ /ص / ۱۹۵)
(۳) زرقاني جلد ۳ /ص / ۱۹۷)
(۴) مجمع الزوائد جلد ۹ /ص / ۲۱۷)

سیف لودین کتابتون

پنځم فاطمة الزهراء رضی الله تعالی عنها !

ددې نوم فاطمه رضي الله عنها اوزهراء اوبتول دواړه ددې لقبونه دی فاطمة رضي الله عنها ته بتول ځکه ویل کیدل بتول له بتل څخه جوړدی چی معنی یې دی قطع دادسپیڅلتیا اوکمال په وجه ددنیاله ښځوبیله اوجلاوه یاداچی له الله ﷻ پرته له نوروخلکوبیله وه اودباطن دپاکی اوسپیڅلتیااوړناله امله زهراء ورته ویل سوی دی

ابن عبدالبرویلی دی چی دنبوت په لومړی کال پیداسوی ده ابن جوزی ویلی دی چی ترنبوت پنځه کاله مخکې پیداسوی ده کله چی قریشودکعبې خونه نوی جوړوله (۱)

دنبی کریم ﷺ په ټولولوڼوکې فاطمة الزهراء رضي الله عنها ترټولوکشره ده ترټولومشره زینب رضي الله عنها بیارقیه رضي الله عنها بیاام کلثوم رضي الله عنها بیافاطمة رضي الله عنها په همدې ترتیب سره پیداسوی دی (استیعاب لابن عبدالبرجلد ۴ /ص /۳۷۳ترجمه فاطمة الزهراء رضي الله عنها حاشیه اصابه)

په کال دویم ۲ هجری کې له علی رضي الله عنه سره واده کړی دلومړی قول پربنیادفاطمة رضي الله عنها دواده په وخت کې دپنځه لس کالواوپنځه نیمومیاشتووه اوددویم قول په خبره باندی دنوولس کالواودوه نیم میاشتووه دعلی رضي الله عنه په اړه اختلاف دی چی هغه په کوم کال اسلام راوړی دی یوقول دادی چی داتوکالووچی اسلام یې راوړی اوبل قول دادی چی دلسوکالووو چی اسلام یې راوړی دلومړی قول په خبره دعلی رضي الله عنه عمر دنکاح په وخت کې یویشت کاله اوپنځه میاشتی کیږی اوددویم قول په بنیادباندی څلیرویشت کاله اودوه نیمی میاشتی کیږی (زرقانی جلد ۳ /ص /۲۰۴)

دفاطمی رضي الله عنها دنکاح تفصیل دکال دویم ۲ هجری په پیښوکې تیرسوی دی دفاطمی رضي الله عنها پنځه اولادونه سوی دی درې زامن اودوې نجونی حسن رضي الله عنه حسین رضي الله عنه محسن رضي الله عنه ام کلثوم رضي الله عنها زینب رضي الله عنها)

درسول الله ﷺ په ټولولوڼوکې پرته له فاطمی رضي الله عنها بل دیوی لورڅخه هم درسول الله ﷺ دنسل سلسله نده پاته سوی

محسن خوپه وړوکوالی کې وفات سوی دی دام کلثوم رضي الله عنها سره عمر رضي الله عنه نکاح کړی ده اوهیڅ اولادیې نه دی پیداسوی اوله زینب رضي الله عنها سره عبدالله بن جعفر رضي الله عنه نکاح کړی ده اوله هغه څخه یې اولادسوی دی (۲) درسول الله ﷺ دوفات څخه شپږمیاشتی وروسته دروژی مبارک په میاشت کې په کال یوولسم ۱۱ هجری کې فاطمة الزهراء رضي الله عنها وفات سوی ده عباس رضي الله عنه دجنازی لمونځ پرکړی دی اوعلی رضي الله عنه اوعباس رضي الله عنه اوفضل بن عباس رضي الله عنه قبرته کښته کړه (۳) (اصابه ترجمه فاطمه الزهراء رضي الله عنها)

---

(۱) زرقانی جلد ۳ /ص /۲۰۲)
(۲) زرقانی جلد ۳ /ص /۲۰۷)
(۳) الاصابه جلد ۴ /ص /۳۹۷)

دفاطمة الزهراء رضی الله تعالی عنها فضائل او مناقب !

فاطمهؓ پررسول اللهﷺ ترټولو ګرانه وه په وار وارېي داسي فرمايلي دي چي اې فاطمهؓ آياته په دې نه يې خوشاله چي ته په جنت کې دټولو بيبيانو سرداره يې په يوروايت کې راغلي دي چي نبي کريمﷺ داسي وفرمايل چي ته به دټول عالم دښځوسرداره يې پرته دمريم عليها السلام څخه دنبي کريمﷺ داعادت شريف وو چي کله به سفرته تلی نوترټولو آخير به يې له فاطميؓ سره ليدل اوکله چي به له سفره راغلی نوترټولو مخکې به يې فاطمهؓ ليدله (۱) دفاطمة الزهراءؓ دفضائلو او مناقبو لپاره يو بيل کتاب جوړول په کار دی يه دې وجه موږ په نه زړه له کوتاهي کار واخيستی

ښېږم ابراهيم رضي الله تعالی عنه !

ابراهيمؓ درسول اللهﷺ آخرنی اولاد دی چي دماريه قبطيهؓ له نس څخه دی دهجرت په اتم ۸ کال دلوی اختر په مياشت کې پيداسوی دی په اوومه ورځ رسول اللهﷺ عقيقه وکړه په عقيقه کې دوه پسونه حلال کړه سرېي وخريل سو اودويښتانوبرابرسره زر وتلل سو اوخيرات سو او ويښتان په ځمکه کې ښخ سو اوابراهيمؓ نوم يې پرکيښودی او په کليوالو سيمو کې يه ودايه ته وسپاری کله ناکله به رسول اللهﷺ په خپله هلته تشريف وړوی او په غېږ مبارکه کې به يې رااخيستی او مينه به يې ورسره کوله تقريباً پنځلس ياشپاړس مياشتي ژوندی وو په کال لسم ۱۰ هجری کې وفات سو په کومه ورځ چي وفات سو اتفاقاً په دغه ورځ لمر هم تندرنيولی وو دعربو داعقيده وه چي کله يولوی سړی مړسي نو لمرته تندرنيسي حکه نبي کريمﷺ ددې باطلي عقيدی دردولو لپاره خطبه ولوسته اووې فرمايل چي لمراوسپوږمۍ دالله ﷻ دوجود نښې دی دچاپه مرګ ياژوندنه توريږی الله تعالی خپل بندګان ويروی کله چي لمرياسپوږمۍ تندر ونيسی لمنځونه کوی اودعاء کوی اوخيراتونه کوی (۲)

درسول الله صلی الله عليه وسلم حليه مبارکه !

رسول الله صلی الله عليه وسلم نه ډير اوږداونه ډير کوچنی قدوالاوو بلکې ميانه قده وو لوی سرېي وو ويښتان مبارک يې ډير ګڼ وده مبارکﷺ په ويښتانوکې تقريباشل ياپنځه ويشت سپين ويښتان وو مخ مبارک يې ډير ښائسته اونوراني وو هرچاچي دده مبارک مخ ليدلی دی هغه دنبي کريمﷺ مخ مبارک دڅورلسم په سپوږمۍ تعبير کړی دی دنبي کريمﷺ په خوله مبارکه کې يوقسم خوشبويې وه دمخ مبارک خوله چي به يې پرمخ راتوی سوه نودملغلرو په شيربه ښکاريدله انسؓ وايې چي موږ هيڅکله وراړه اوغټ وريښم دنبي کريمﷺ ترلاسو پاسته اونرم نه دی ليدلی اوترمشک اوعنبردنبي کريمﷺ بدن ډير خوشبويه وو

(۱)زرقاني جلد ۳ /ص/ ۲۰۴ (۲)زرقاني جلد ۳ /ص/ ۲۱۴

سیف لودین کتابتون

دنبوت مهر!

ددواړواوږوپه مینځ کې راسته اوږی ته نژدی دنبوت مهروو په صحیح مسلم کې راغلی دی چې دنبی کریم ﷺ ددواړواوږوترمینځ یوه سره دغوښې ټوټه دکوتری دهګۍ په شان معلومیده همدادنبوت مهردرسول الله ﷺ دنبوت یوه ځانګړی نښه وه چې ددې یادونه په مخکنیو اسمانی کتابوکې اودانبیاء علیهم السلام په زیروکې سوی وه دبنی اسرائیلو علماء به داعلامه لیدله اوپیژندله به یې چې داهغه نبی اخرزمان دی ﷺ چې مخکنیو انبیاء علیهم السلام یې زیری ورکړی دی اودوئ چې کومه دنبوت علامه ښودلی وه هغه په نبی کریم ﷺ کې موجوده وه ګواکی دادنبوت مهردنبی کریم ﷺ دنبوت لپاره دالله ﷻ له لوری ښخه یوسنداومهروو (مدارج النبوة جلد ۱/ص/۲۱)

علامه سهیلی وایې چې دنبوت مهردنبی کریم ﷺ چپه اوږی هډوکی ته نژدی وو وجه یې داده چې دانسان په بدن کې دشیطان دداخلیدوهم همداځای دی ځکه شیطان دشاله لوری انسان ته راځی اوزړه ته وسوسی اچوی په همدې وجه دنبی کریم ﷺ په بدن مبارک کې په همدې ځای کې دنبوت مهرلګیدلی وو ددې لپاره چې دشیطان دراتلولاره بنده سی اودنبی کریم ﷺ په روښانه زړه کې دشیطان کومه وسوسه داخله نه سی (خصائص کبری جلد ۱/ص/ ۶۰) اوپه یوشمیرروایاتوکې راځی چې دنبی کریم ﷺ په شاکې چې کوم دنبوت مهروو په هغه باندی په قدرتی ډول باندی محمد رسول الله لیکل سوی وو

(اخرج ابن عساکر والحاکم فی تاریخ نیسابورعن ابن عمر رضی الله عنه قال کان خاتم النبوة علی ظهر النبی صلی الله علیه وسلم مثل البندقة من لحم مکتوب فیها محمدرسول الله خصائص کبری للیسوطی صفحه ۶۰ وزرقانی شرح مواهب جلد۱/ص/۱۵۶)

ژباړه: ابن عساکراوحاکم په تاریخ نیشاپورکې له ابن عمر رضی الله عنه ښخه روایت کوی چې دنبوت مهردرسول الله ﷺ په شاباندی دغوښې دګین په ډول وو اوپرغوښه په قدرتی ډول باندی محمدرسول الله لیکل سوی وو..

علامه زرقانی وایې چې داحدیث په ډیروطریقوروایت سوی دی یوشمیر طریقی ددې حدیث باطل دی اویوشمیرضعیف دی اوشیخ عبدالرؤف منادی په شرح دشمائل جلداول ۱ صفحه ۶۰ کې لیکی چې حافظ قطب الدین حلبی اوبیادهغه په پیروی کې حافظ مغلطائی ددې حدیث دطریقو وسندته لاس رسی کړی دی مګر هیڅ روایت په دې کې دصحت اوثبوت درجی ته نه دی رسیدلی

دنبی کریم ﷺ دسرویښتان ډیروخت تراوږوپوری وو اوکله به دغوږوترنرمیوپوری اوږده وو ویښتان به یې ډمونځ کول هم اوسترګې یې قدرتی توری وی خوپه رانجوبه یې هم [illegible]

سیف لودین کتابتون

وی دسینی مبارکی څخه بیاترنامه پوری دوېښتانویوه نری لیکه خط وو لاسونه مبارک اوپښي مبارکي يې غوښن وو نبی کریم ﷺ چی به کله تلی نوداسی به معلومیدی چی ګواپښي کلکی ایږدی اوګام پورته کوی لکه له لوړ څخه چی کښته ته ځي

لنډه داچې دنبی کریم ﷺ پاک بدن اوروښانه مخ په ټولوښکاره اوپټوښکلاوو اوصفتوښائسته وو پرته له مسکی کیدوهیڅ وخت هم نبی کریم ﷺ په زوره نه دی خندلی په حدیث شریف کې راځی چی په بدن اوخوی کې نبی کریم ﷺ له ابراهیم علیه السلام سره مشابه و

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ږیره مبارکه !

دنبی کریم ﷺ ږیره مبارکه ګڼه وه نبی کریم ﷺ هیڅ کله نه پریکوله البته بریتونه به يې پریکول مګر ځای ځای چی به کوم ویښتان زیاتیدو هغه به يې پریکول ددې لپاره چی هیئت بدنه ښکاریږی ږیره لکه څنګه چی دټولوانبیاء علیهم السلام سنت ده معاذالله دهیوداد اوقوم درواج په بناء باندی نه وه لکه چی یوشمیرګمرهان اوناپوهان وایې

ږیره یوائې سنت محمدیه اوداسلام طریقه نه دی بلکې دټولوپیغمبرانوعلیهم السلام چی ددوئ شمیرنژدی یولک اوڅلیرویشت زره ته رسیږی سنت اوطریقه ده لکه چی په حدیث نبوی کې راغلی دی (من سنن المرسلین) یعنی ږیره دټولوانبیاء اورسولانوعلیهم السلام سنت دی په کلیساوو کې چی نن کوم انځورونه دعیسی علیه السلام پراته دی په هغوکې هم ږیره شته اودیهودوعلماء اودنصاراوو چی دوئ ورته پاپ وایې هغوئ هم ډیری ږیره لری لنډه داچی په مذهبی خلکوکې ږیره درلودل ددې خبری ښکاره دلیل دی چی ږیره دانبیاء علیهم السلام طریقه اوسنت دی اودهارون علیه السلام دږیره یادونه په قرآن کریم کې سوی ده قَالَ يَا ابْنَ أُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي إِنِّي خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي (۹۴ آیت سورة طه)

په عربوکې چی به کوم خلک دابراهیم علیه السلام ددین پیروان وو هغوئ به ږیره پریښودله اوډیرومشرکینوبه ږیره وهله په همدې وجه نبی کریم ﷺ وفرمایل (خالفوا المشرکین احفوا الشوارب واعفوا اللحی) دمشرکینومخالفت وکي اوددوئ په خیرږیری مه وهی دانبیاء علیهم السلام دسنت برابربریتونه وهی اوږیری غتې کړی اودمشرکینوله مشابهت ځانونه وساتی دانبیاء علیهم السلام هیئت اوشکل غوره کي دغوره بندګانودهیئت اوشکل هم غوره وی اودګمرهانو اوګمراه کونکویعنی دیهودو اونصاراوو په مشابهت دغضب اوګمراهی ویره شته

لنډه داچی ږیره دټولوانبیاء علیهم السلام اوصحابه کرام رضی الله عنهم اوتابعینو اوټولوحق علماء همیشنی سنت دی اوداسلام له شعائروڅخه دی ږیره وهل یاخریل لویه ګناه ده اوداسلام دشعائروښکاره بی عزتی ده اوپه ږیره پوری خنداکول کفردی ځکه په ږیره پوری خندل دټولوانبیاء اورسولانوعلیهم السلام

سیف لودین کتابتون

سوی حکم بې عزتی ده او دټولو صحابه کرام ؓ او تابعین او دڅورلسمې پیړۍ دټولو علما ؤ او ښو خلکو او دالله ﷺ د دوستانو او د اسلامی پاچهانو کم عقله او ناپوهان ګڼل دی په ډیره پوری خنداکونکي په دې نه پوهیږی چی پنځوس کاله مخکې د دوئ د نسب په لړۍ کې د دوئ نیکه ګانو ږیره درلوده آیا دې خنداکونکي په نزد دده ټول پلرونه او تیر سوی نیکه ګان دکم عقلۍ یوه نمونه وه الله تعالی دی و دې ناپوهانو او دغرب په میو مست نشه یانو ته سمه لاره وښیې ..

دنارینه وو ږیره او دښځو ویښتان !

لکه څنګه چی دسرویښتان دښځي لپاره ښائست دی دغه رنګه دنارینه وو لپاره ږیره ښائست دی ځکه ښځوته دا حکم سوی دی چی ویښتان دی په خپل حالت پریږدی او له خریولو څخه منع سوی دی په نسائی شریف کې له علی کرم الله وجهه څخه روایت سوی دی (نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم ان تحلق المرأة رأسها) رسول الله ﷺ دښځو دسر خریل منع کړی دی ،، او نارینه ته دسر په خریلو او پریښودلو کې اختیار دی مګر دالارښوونه یې ورته کړی ده چی نارینه دې خپل ویښتان داسی نه پریږدی چی له ښځو سره یې مشابهت راسی بلکې دنارینه دویښتانو یې خپله اندازه ټاکلی ده چی ترهغه به تیری نه کوی یعنی دغوږوترنرمۍ پوری به وی یا به تراوږوپوری رسیږی په سنن ابی داؤد کې له ابن حنظله ؓ څخه روایت سوی دی (قال النبی صلى الله عليه وسلم نعم الرجل خريم لولا طول جمته واسبال ازاره فبلغ ذلك خريما فاخذ مشفرة فقطع بها جمته الى اذنيه ورفع ازاره الى انصاف ساقيه) ژباړه : رسول الله ﷺ وفرمایل چی خریم ډیر ښه سړی دی که دهغه دسرویښتان تراوږو تیر نه وای او دده پرتوګ یا لنګ ترپنډیو اوږدنه وای کله چی داخبره خریم ؓ ته ورسیده نوهغه سمدستی غچی راواخیسته او ویښتان یې له غوږویو حال پریکړل او لنګ یې تربجلکو لوړکي ..

اودسرخریونکی ته دا حکم سوی دی چی که دسرخریول غواړی نوټول ویښتان دی وخروی دا اجازه یې نه ده ورکړی چی څه پریږدی او څه وخروی په صحیح مسلم کې له عبدالله بن عمر ؓ څخه روایت سوی دی (ان النبی صلى الله عليه وسلم رأى صبيا ترك بعضه فنهاهم عن ذلك وقال احلقوا كله او اتركوا كله) ژباړه : رسول الله ﷺ یوماشوم ولیدی چی دده دسریو څه خریل سوی او نورپاته وو نبی کریم ﷺ خلک له دې منع کړه او حکم یې وکې چی یاخو ټول سرخروی او یا ټول ویښتان پریږدی .. او په صحیح بخاری کې له عبدالله بن عمر ؓ څخه روایت سوی دی (سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم ينهى عن القزع قال عبيدالله والقزع ان يترك بناصية شعر وليس فى رأسه غيره وكذلك شق رأسه وهذه او هذا) ژباړه : ماله رسول الله ﷺ څخه اوریدلی دی چی له قزع څخه یې منع وکړه عبیدالله ویل چی قزع دې ته وایې چی

سیف لودین کتابتون

پرېښودل سی او کلګئ یې وخریل سی ،، له دې څخه منع سوی ده ځکه په دې کې له یهودو سره مشابهت راځي لکه چې د سنن ابي داؤد په حدیث کې د دې تصریح سوی ده (فان ذلک زیّ الیهود) یعنی داسې هیئت او شکل له دوئ سره ورته والی دی او کله چې دا کار د ماشومانو لپاره ناروا سو نو د لویانو لپاره په طریقه اولی سره ناروا دی او دغه رنګه د سرپه ویښتانو کې له عیسایانو سره مشابهت هم ناروا دی الله تعالی د نارینه او ښځې پیدا ښت یو له بل څخه بېل کړی دی د هریوه طبیعت او مزاج یې بېل بېل جوړ کړی دی ښځو ته یې نازکه څېره او د اولاد راوړلو چینه ورکړی ده نو ځکه یې دوئ ته ښائست او د سرو ویښتان ورکړی دی او نارینه یې حاکمان او امیران جوړ کړی دی او نارینه ته یې توان او قوت ورکړی دی او د دوئ شکل او هیئت یې داسې جوړ کړی دی چې له هغه څخه د بدبه مخورتیا ښکاره کېږي په دې وجه الله تعالی د نارینه په مخ باندی ږیره او بریتونه پیدا کړی دی او د دوئ په اندامو کې یې طاقت او سختی ایښې ده او د دوئ په خبرو کې او لهجه کې یې سخت والی پیدا کړی دی او د دوئ په مزل کې یې دلاوری ایښې ده او د دوئ په زړو کې یې داسې فکر ایښي دی چې د دوئ له شان او شوکت سره مناسب وی او د ښځو په فطرت کې یې نازک والی ایښي دی او د ولادت او ماشوم ته د تی ورکولو او اولاد د پاللو مینه یې د دوئ په زړو کې ایښې ده له همدې کبله ترننه پوری هیڅ یوه هیواد یو ائی د ښځو فوځ نه دی جوړ کړی ځکه د فوځ لپاره دلاوری په کار ده نه نازکوالی لکه څنګه چې الله تعالی نارینه او ښځه په خلقت او طبیعت کې سره بېل کړی دی له همدې کبله په اسلامی شریعت کې حکم سوی دی چې نارینه دی له ښځو سره مشابهت نه کوی او نه دې ښځې د نارینه وو په څېر ځان نه جوړوی د دې لپاره چې د فطرت د قانون مخالفت رانه سی او یوه نوعه د بلې نوعې خاص شیان غوره نه کړی مثلاً اسلام نارینه ته دا حکم کوی چې وریښمینې او ښائسته جامې چې په ښځو پورې خاص دی هغه دې نه کاروی او ګینه دې نه کاروی جوغه دې نه ایږدی او بنګړی دی نه په لاس کوی او نه دې سور رنګ جامه اغوندی او نه دې د ښځو په څېر تګ کوی او نه دې ږیره خروی بلکې ږیره به په خپل حالت پرېږدی او بریت به پرېکوی او ږیره غځول او بریت پرېکول د ټولو انبیاء علیهم السلام سنت دی او د فطرت غوښتنه هم همدا ده ..

د رسول الله ﷺ په وخت کې مجوسیانو د اور عبادت کونکو د فطرت خلاف کار کوی بریت به یې غځول او ږیره به یې پرېکوله یا خروله په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم

سیف لودین کتابتون

مسلمانانوته حکم وکی چې تاسو له مجوسیانو سره مخالفت کوی ږیره پریږدی او بریتونه کوچنی کوی ،، په صحیح مسلم کې له ابوهریرة ﷺ څخه روایت سوی دی: (قال رسول الله صلی الله علیه وسلم جزوالشوارب وارخوا اللحی وخالفوا المجوس) ژباړه : بریتونه پریکوی او ږیره غټې کړی او دمجوسو مخالفت وکوی ..

په احادیثوکې بی شمیره ځایونه راغلی دی چې دږیری غټول او دبریتوپریکول دانبیاء علیهم السلام سنت دی او دفطرت له کاروڅخه دی فطرت ددې غوښتنه کوی چې دکوچنی او غټ نارینه او ښځی په مینځ کې فرق وسی نو دبیلیدلو یوائخنی لاره داده چې نارینه ږیره پریږدی اوبل داچې ږیره دنارینه ښائست هم دی او دهیبت او عزت نښه هم ده که غواړی نوتاسو خپله ازموینه وکړی هغه داسی چې دیوه عمردوه ځوانان اودوه سپین ږیری زاولی په دوئ کې دږیرو والاو یوی خواته ودروی اوبی ږیری بلی خواته ودروی اوپه یوه ځل دواړو ته وګوری تاسوته به معلومه سی چې کوم خلک ښائسته ښکاری اوکوم بدښکاری اودغه ویښتانو والاښځه په ښائست کې څومره زیاتی معلومیږی ترهغوښځوچې ویښتان یې پریکړی وی دغه رنګه ږیری والاترخپل همزولی ږیره خریونکی ډیر ښائسته اوعزتمند ښکاریږی که څوک غواړی ازموینه دی وکړی په پوهنتون کې یوشمیر دینداره هلکان ږیره پریږدی داځوان هلک تر ږیره خریونکی همزولی ډیر ښائسته ښکاریږی .. یادلندن اوجرمنی داسی دوه همزولی ځوانان سره ودوره چې ددوئ ږیره اوس تازه شپږمیاشتنی راغلی وی دوه تنه دې خپله ږیره پریږدی بیادې ترشپږمیاشتی وروسته په دوئ کې یوځوان ږیره وخروی اوبل دهغه همزولی دی ونه خروی نوپه دې وخت کې دې دواړه ځوانان سره ودرول سی اوورته ودې کتل سی چې په دوئ کې کوم یوډیر ښائسته معلومیږی ستایوځل کتل به خپله داپریکړه کوی چې ربښتیاهم ږیره ډیر لوی نعمت اوښائست دی اوپه ږیره کی چې کوم ښائست شته هغه په خریلوکې نسته نولکه څنګه چې دښځولپاره دسرویښتان اوچوټه دښائست سبب دی دغه رنګه دنارینه وو لپاره ږیره دښائست سبب دی اوکه دښائست اړتیانه وی نوبیاخودی ښځی هم سرونه وخروی .. داروپاپه اړه یوه قصه درته کوم هغه داسی چې یووخت په اروپاکې ښځو دافکروکي چې موږبايد سرونه وخروو ددې لپاره چې ددماغ بخاروزی موږبه هم دنارینه وو په څیرروغی جوړی اوقوت مندی سو دې ښځوچې کله څو ځلی خپل سرونه وخریل نوددوئ ږیری راوختی وروسته یې بیاسرخریل پریښودل...

مسئله : یوشمیر فقهاء کرام دمعمی په ډول لیکلی دی چې داراته وویاست چې د کومی ږیری خریل واجب دی؟ ځواب یې لیکلی دی چې دښځې که ږیره راسي نو دهغې خریل واجب دی

سیف لودین کتابتون

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم لباس او جامه !

درسول الله صلی الله علیه وسلم لباس ډیر ساده او معمولی لباس وو غریب او بی وزله ژوندیې وو ډیروخت د به نبی کریم ﷺ څادر او کرتی، او چپنه او شړی کې پینی لګیدلی وی ،،
دنبی کریم ﷺ شنه جامه خوښه وه خو دنبی کریم ﷺ جامه به ډیر وخت سپینه وه

پټو :.. یمنی پټو چی په هغه باندی شنی او سری لیکی کرښی وی دنبی کریم ﷺ ډیر خوښ وو چی دبردیمانی په نامه سره مشهوروو له خاص سره رنګه څخه یې منع کړی دی

خولی :.. داسی خولۍ به یې وه چی په سرپوری به موښتی وه او لوړه خولۍ یې هیڅکله نه کاروله (یعنی داسی خولۍ یې نه وه چی جګه ولاړه وی)

لنګوټه :.. رسول الله ﷺ به دپټکی څخه لاندی خولۍ پرسر کوله او ددې ټینګاریې کوی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی زموږ او دمشرکینو دلنګوټو په مینځ کې توپیر دادی چی موږ په خولیو باندی لنګوټه تړو او دوئ یې په لوڅ سرباندی تړی (ابوداؤد)
نبی کریم ﷺ چی به کله لنګوټه تړله نو شمله به یې د دواړو اوږو په مینځ کې پریښودله او کله به یې راسته خواته او کله به یې چپه خواته اړوله او کله به ترزنه لاندی ول اړوی په حدیث شریف کې راځي چی نبی کریم ﷺ وفرمایل :چی الله تعالی دبدر په غزا او دحنین په غزا کې زمادمرستی لپاره داسی ملائکه وی راکښته کړی وی چی لنګوټی یې تړلی وی چی د دوئ یادونه په قرآن کریم سوی ده ﴿یُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ﴾ (۱۲۵ آیت سورة آل عمران)

پرتوګ :.. په حدیث شریف کې راغلی دی چی نبی کریم ﷺ دمِنا په بازار کې پرتوګ ولیدی ډیر یې خوښ سو او وې فرمایل چی په پرتاګه کې دلنګ په نسبت پرده زیاته ده هغه یې رانیوی مګر استعمالول یې ثابت نه دی

قمیص :.. قمیص دنبی کریم ﷺ ډیر خوښ وو پر سینه باندی به دقمیصه ګریوان وو کله کله به دهغه تنۍ خلاصی پاته وی

لنګ :.. دنبی کریم ﷺ ټولی جامی تر بجلکو لوړی وی په ځانګړی ډول دده مبارک لنګ به دپونډۍ ترنیمایې پوری وو

موزی :.. نبی کریم ﷺ به موزی هم استعمالولی او مسح به یې هم پرکوله ..

نیالی : دنبی کریم ﷺ نیالی یا توشکه له څرمنی جوړه وه چی دخورماله پوستو کوډکه سوی وه او ډیر وخت به نبی کریم ﷺ په څټایې ویدیدی همداد نبی کریم ﷺ بستره او دارام ځای وو

ګوتمی :.. دنبی کریم ﷺ په لاس مبارک دزرو ګوتمۍ وه کله چی رسول الله ﷺ دروم او حبشه پاچا نجاشی او نورو پاچهانو ته داسلام دعوت لیکونو لیږلو اراده وکړه نو صحابه

سیف لودین کتابتون

دزرو ګوتمۍ جوړه کړه چې په هغې کی درې لیکی وی په لاندی لیکه کې محمد په دویمه کې رسول په لوړه لیکه کې الله لیکلی وو او په دې ګوتمۍ به یې لیکونه ټاپه یا مهر کول ..

څوټی: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د چپل په شیر څوټی وی چې لاندی یې یوتلی او لوړی دوې تسمی تارونه وو په هغو کې به یې ګوتی مبارکی بندولی (زرقانی جلد ۵ /ص/ ۴۵)

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم خرقه مبارکه !

قال الله تعالی ﴿یَا اَیُّهَا الْمُزَّمِّلُ﴾ (۱) ﴿قُمِ اللَّیْلَ إِلاَّ قَلِیلاً﴾ (۲) سورة المزمل) وقال الله تعال ﴿یَا اَیُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ (۱) ﴿قُمْ فَاَنذِرْ﴾ (۲) ﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾ (۳) سورة المدثر)

د رسول الله صلی الله علیه وسلم توره چپنه وه چې له وړیو جوړه سوی وه په هغې کی به پینی لګیدلی وی ودې چپنی ته خرقه هم وایې دوړی، توره شړۍ چې په هغې کې پیوندونه یا پینی لګیدلی وی دانبیاء کرام علیهم السلام سنت دی چې وروسته بیا اولیاء الله او فقیرانو ته په میراث پاته سوی دی خوافسوس چې نن داسنت له دنیا څخه کډه کړی صوفی ته ځکه صوفی وایې چې وړینی جامی به یې اغوستلی او دانبیاء علیهم السلام په سنت باندی یې عمل کوی او دنیا ته یې درې مغلظ طلاق ورکړی وو او له دنیا به بی بیغمه وو او دپاچهی جامی به یې ددې غریبۍ په بدل کې هیڅ هم نه ګڼلی

قال ابن مسعود ﷺ کانت الانبیاء یرکبون الحمر ویلبسون الصوف ویحتلبون الشاة رواه الطیالسی وعنه صلی الله علیه وسلم قال کان علی موسی یوم کلمه ربه کساء صوف وکمة صوف وجبة صوف وسراویل صوف وکانت نعلاه من حمار میت (رواه الترمذی وقال غریب والحاکم وصحة علی شرط البخاری (زرقانی جلد۵/ص/۱۶)

ژباړه : عبد الله ابن مسعود ﷺ ویلی دی چې انبیاء علیهم السلام به په خروباندی سپریدل او وړینی جامی به یې اغوستلی او د پسو او بزو شیدی به یې لوشلی دا روایت ابو داؤد طیالسی راوړی دی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چې په کومه ورځ موسی علیه السلام له الله تعالی سره خبری کولی په هغه ورځ یې دوړی جامه اغوستی وه او خولۍ یې هم له وړیو جوړه سوی وه او چپنه یې هم دوړیو وه او پرتوګ یې هم له وړی څخه وو او څپلۍ یې دمړه خره له څرمنی څخه جوړ سوی وو داحدیث ترمذی روایت کړی دی او ویلی دی چې داحدیث دبخاری په شرط باندی صحیح دی (۱)

ابو بردة بن ابی موسی اشعری ﷺ روایت کوی چې یوه ورځ عائشه صدیقه رضی الله عنها دوړیو یوه کمپله چې وهغې ته پینی لګیدلی وی او یو پیړ او ایستی موږ ته یې وښودی او دایې وویل چې نبی کریم ﷺ په همدې دوو جامو کې وفات سوی دی ، دعائشه صدیقه رضی الله عنها هدف دنبی کریم ﷺ ساده ژوند او دعاجزی او فقیری ښودل وو چې دنبی کریم ﷺ ژوند داسی وو (رواه البخاری فی فرض الخمس واللباس ومسلم وابوداؤد والترمذی وابن ماجه (۲)

(۱) زرقانی جلد ۵ /ص/ ۱۶) (۲) زرقانی جلد ۵ /ص/ ۲۵)

سیف لودین کتابتون

او دالله تعالى په دې نرم خطاب يعنى ﴿يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ﴾ او ﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ ودې ته اشاره دى چې دالله ﷻ په دربارکې شرى اوچپنه ډير خوښ لباس دى چې ددې جامې په عنوان سره يې نبى كريم ﷺ ته خطاب وكى په دې وجه شاه عبدالعزيز قدس سره ليكلى دى چې داولياء الله په نزد سورة مزل ته سورة الخرقه وايې چې په هغه كې دخرقه (چپنه) آداب اوشرائط يادسوى دى تفسير عزيزى وګورى

دنبى كريم صلى الله عليه وسلم جامه دابراهيم ﷺ او اسماعيل ﷺ په څير جامه وه معاذالله دقوم اووطن جامه نه وه !

دنبى كريم ﷺ جامه اوژوند معاذالله معاذالله دقوميت اووطن دپيروى په نيت نه وو يلكې دالله تعالى په وحى اوښوونى سره وو په عربوكې له پخوا څخه دحله يعنى څادر اولنګ دوداودستوروو داسماعيل ﷺ هم همدا جامه وه لكه چې له عمرفاروق ﷺ څخه روايت سوى دى چې هغه دازربايجان وعربوته دجامى داغوندلو ترغيب وكى اوورته وې ويل چې داستاسودپلار اسماعيل ﷺ جامه ده (امابعدفاتزروا وارتدو عليكم بلباس ابيكم اسمعيل واياكم والتنعم وزى الجعم)

ژباړه : لنګ اوڅادراغوندى اودخپل پلاراسماعيل ﷺ جامه پرځان لازمه كي اودښه ژوندلنګ اودعجمو له جامى څخه ځانونه وساتي

معاذالله دنبى كريم ﷺ جامه ياژوندتيرول دقوم په پيروى اومتابعت نه وو بلكې دالله په لارښوونه اودالله ﷻ په حكم سره وو دقوم دعقائدو اواخلاقو اواعمالواوعباداتواوراكړه وركړه دټولوپه اړوندضرورى لارښوونى اوحكمونه جارى كړه تردې چې دبولو اومتيازو آداب هم دوئ ته وښودل ..

دژونداودآخرت يوه داسى څانګه نسته چې دهغې په اړه دالله ﷻ رسول ﷺ ته غيبى اشاره اوپټ الهام نه وى داهيڅ امكان نه لرى چې نبى ﷺ دعامو خلكوددود اورواج پيروى وكړى رسول الله ﷺ دجامى په هكله حكمونه جارى كړى دى چې فلانى رنګه جامه روا ده اوفلانى حرام تردى چې دمسلمان اودكافرپه جامه كې بيلوالى راغلى اوبى شميره احاديثونبويه ووسره ثابت دى چې نبى كريم ﷺ له كافرانويهوداونصاراوو سره له مشابهت اوورته والى څخه منع كړى ده اوددوئ دمخالفت حكم يې كړى دى اوپه كومه جامه چې فخراولويې اواسراف اوعيش اوعشرت راځى هغه يې منع كړى دى اوهغه جامه يې منع كړى ده چې دالله ﷻ ددښمنانوسره دمشابهت سبب جوړيږى مشركينوبه واړه اوغټ وريښم كارول نبى كريم ﷺ دهغوله كارولو څخه منع وكړه مشركينوبه لنګ دتكبر اولويى په ډول ترپنډيو كښته كړى وو مګرنبى كريم ﷺ دانارواوګروزى ډيروښائسته جاموكارول يې دنارينه لپاره منع كړى دى چې دلويى اوعيش اواسراف څه شک اوشبه

سیف لودین کتابتون

هم پاته نه سی مشرکینو به په لوڅ سر لنګوټی تړلی مګر نبی کریم ﷺ پرخولۍ باندی دلنګوټی تړلوحکم کړی دی (فرق ما بیننا وبین المشرکین العمائم علی القلانس) زموږ او دمشرکینو دلنګوټو توپیر دادی چی موږ په خولیو باندی لنګوټی تړو او دوئ یې پرلوڅ سرتړی ..

دغه رنګه نبی کریم ﷺ دمسلمانانو او کافرانو په جامه او بدن کې بیل والی راوستی په صحیحینو کې راغلی دی چی نبی کریم ﷺ وفرمایل (خالفوا المشرکین اوفروا اللحی واحفوا الشوارب) له کافرانو سره مخالفت وکوی ږیری غټی کړی او بریتونه کوچنی کړی یعنی خپل شکل او هیئت او صورت دکافرانو په څیرمه جوړوی ستاسو ناسته ولاړه له کافرانو بیلیدل په کاردی په مسند احمد او سنن ابی داؤد کې له عبدالله ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت سوی دی (قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من تشبه بقوم فهو منهم) ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چاچی له یو قوم سره مشابهت اوورته والی غوره کي نو هغه به له هغه قوم څخه شمیرل کیږی ،، علامه قاری ددې حدیث په وضاحت کې وایې چی دمن تشبه حدیث څخه په جامه او ښکاره کارو کې ورته والی او مشابهت کول مراد دی پټو اخلاقو او خویو ته مشابهت نه وایې بلکې هغه ته تخلق وایې ..

او په مسلم کې له عبدالله ابن عمرو بن العاص رضی الله عنه څخه روایت سوی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی (ان هذه من ثیاب الکفار فلا تلبسها) دا د کافرانو په څیر جامی دی نو ځکه یې مه اغوندي له دې ټولو احادیثو داخبره ثابته سوه چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم جامه ناسته ولاړه دالله ﷻ په لارښوونه او پیروی وه نه دقوم او وطن په پیروی وه نبی کریم ﷺ که بالفرض والتقدیر په لندن یا جرمنی یا امریکا کې رالیږل سوی وای نو په هغه ځای کې به یې هم دلندن او امریکا دځناورو اصلاح کوله لکه چی دمکې دناپوهانو اصلاح یې وکړه اودوئ شهوت پرستی به یې دخدای ﷻ په عبادت بدلوله اودوئ بی حیایې به په پرده بدلوله اودوئ بی حیایې په پاک لمنی او حیاء او شرم بدلوله نو ځکه یو شمیر ناپوهان او کم عقله ډیمو کراسان دډیمو کراسی دمذهب پلویان او دجمهوریت عاشقان دا فکر کوی چی معاذالله که نبی کریم ﷺ په لندن یا جرمنی یا امریکا کې رالیږل سوی وای نو دغرب رسم او رواج به یې خپل کړی وای نو دادیو ویرونکی او محکوم او مریي او کم عقلی او ډیری ناپوهی تاثیر دی چی ددې حقیقت پرته له لیوتتوب بل څه نه سی کیدای نبی ﷺ دالله ﷻ د امر تابع وو ﴿قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِن تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ﴾ (۱۵ آیت سورة یونس) معاذالله نبی علیه السلام دقوم او وطن تابع نه وی بلکې قوم ته دخپلی پیروی بلنه ورکوی او په صبغة الله دالله ﷻ په رنګ کې دوئ رنګوی ﴿صِبْغَةَ اللَّهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ﴾ (۱۳۸ آیت سورة البقرة) صبغة الله دالله ﷻ په خوښ رنګ

سیف لودین کتابتون

کې د مسلمانانو د ژوند رنګ کیدل په بنیادي ډول سره په دې پورې تړلې دي چې مسلمانان د الله ﷻ د دښمنانو یهودو او عیسایانو د شکل او هیئت اوناسته ولاړه او جامه او خوراک او هرڅه کې سره بیل سي د دوئ له ورته والي څخه پرهیزوسي د دې لپاره چې د ژوند په هره څانګه کې د کفر له بیزارۍ او له کافرانو څخه ښکاره بیلوالی راسي او ایماني رنګ د مؤمن په ژوند کې له هرې خوا ښکاره سي د دې مقصد د ښه روښانه کولو لپاره یو څو الفاظ لوستونکو ته وړاندې کیږي چې د هغه عنوان دی (التنبه علی مافی التشبه) یعني له کافرانو سره د مشابهت مسئلې ته یوه لنډه کتنه :

التنبه علی مافی التشبه (یعني له کافرانو سره د مشابهت مسئلې ته یوه لنډه کتنه !

ټول ثنا او صفتونه الله ﷻ لره دي چې دا خبره ثابته سوه چې د رسول الله ﷺ جامه لنګ او څادر او شړۍ او لنګوټه ناسته ولاړه دا ټول د خپل نیکه اسماعیل علیه السلام په پیروي او اقتداء وو معاذالله د مکې د مشرکینو او د قوم او وطن په پیروي او مشابهت نه وو نو دا مناسبه خبره ده چې د حق غوښتونکي د دې خبرې د ښه تحقیق او څیړنې لپاره د مشابهت د مسئلې په حقیقت باندې ځان خبر کړي موږ به په دې هکله یو څو لنډې خبرې راوړو ځکه د مشابهت مسئله د اسلام له مهمو مسائلو څخه دی چې په هغې باندې د اسلام ډیر حکمونه د منلو وړ ګرزي همدا وجه ده چې کوم خلک د غرب د اخلاقو مینان دي او د غرب په ډالرو مست دي او د اسلامي احکامو له حدودو او بند څخه آزادیدل غواړي د دوئ تر ټولو لومړی ګوت نیونه د اسلام پر دې مسئله د مشابهت باندې کوي دوئ خپل پوره کوښښ کوي چې د مسلمان او عیسایي بای دیوه جامه وي د دې لپاره چې په راتلونکي د دوئ لپاره لاره پاکه سي او دغه د اسلام دعوه کونکي غواړي چې اسلامي جامه د غرب په جامه کې ورنګول سي په نامه خو مسلمان یادیږي مګر په ژوند او ناسته ولاړه او هیئت او شکل او عقیده او جامه خوراک او څښاک کې یو انګریز یا امریکایي جوړ سي .

په اسلامي شریعت کې له کافرانو سره د مشابهت مسئلې ته ځانګړې اهمیت ورکول سوی دی چې د اله بې شمیره آیاتو او احادیثو څخه ثابت دي په دې وجه د تفسیر او حدیث او فقه او عقائدو هیڅ داسې کتاب نسته چې د مشابهت د مسئلې بیان نه وي پکې سوی فقهاء او متکلیمنو د مشابهت مسئله له اسلام د اوښتو (یعني مرتد)په باب کې راوړې ده چې مسلمان په کوموشیانو له اسلام وزي او خارجیږي او د اسلام له پاکې دائرې څخه وزي له هغو مسئلو څخه یوه تشبه بالکفار هم ده او د دې مسئلې خپلې خپلې درجې او مرتبې دي او د هرې درجې یې بیل بیل حکمونه دي د اوومې پیړۍ لوی عالم شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیه حراني رحمه الله متوفی سنه ۸۲۸هجري د دې مسئلې د تشبه حقیقت د روښانه کولو لپاره یو کتاب جوړې کړ چې نوم یې دی (اقتضاء الصراط المستقیم مخالفة اصحاب الجحیم) په دغه کتاب کې د مشابهت د مسئلې بیلا بیل ډولونه بیان سوي دي د کتاب او سنت

سیف لودین کتابتون

او دعقل او نقل په رڼاکې خبرې سوی دی او د کتاب او سنت په نصوصو یې روښانه کړی دی چې د دین او دنیا هیڅ یوه داسی څانګه نسته چې هلته دې سپڅلې شریعت د کفر او شرک له مردارۍ او تیارو څخه د مشابهت څخه د ساتلو لپاره خپلو دوستانو ته حکم نه وی کړی او دایې ثابته کړې ده چې د اسلام غوښتنه داده چې یهودا و نصاراوو له مشابهت څخه ځان وساتل سی د دوئ په ښیرپتلون او نیکټایې و نه تړل سی

نن دغرب په پرمختګ سره دافتنه عامه سوی ده او دینی علماؤ خپله پوره توجه ودې ته وکړه خواوس دفتنو په دورکې دمشابهت پرمسئله باندی یو داسی پوره کتاب نه دی لیکل سوی چې په هغه کې ددې مسئلې په ټولو اړخوباندی منظم او مرتب او مدلل او پرلپسې خبرې سوی وی او په دې سره دشک اچونکو دغرب دمریانو او وسوسه او وهم کونکو شک او وهم لیرې سی چې ترهغه وروسته چاته دخولې پرانیستلو جواز نه وی پاته سوی نو الحمدلله دادینی فریضه زموږ ګران دوست محترم لوی عالم مولانا قاری حافظ محمد طیب صاحب د دار العلوم دیوبند مهتمم حفظه الله تعالی په قلم سره آداء سو جزاه الله تعالی عن الاسلام والمسلمین خیراً

نو موږ د (التشبه فی الاسلام) په نامه یو کتاب په دوو برخو ویشلې دی لوموړی د مشابهت د مسئلې په څیړنه او پلټنه کې بې مثال کتاب دی او ښتیا هم مثال نه لری مولانا اشرف علی تهانوی قدس الله سره ددې کتاب په اړوند ویلی دی (بعدالحمد والصلاة دې احقر دا رساله ټکی په ټکی وکتله په هر ټکی سره یې په زړه کې خوشالی او په سترګو کې رڼا زیا تیدله د مشابهت د مسئلې داسی پوره او تفصیلی او له دلائلو سره لیکل سوی کتاب مانه دی لیدلی و کوموراز و ته چې د ذهن ورتګ احتمال هم نه وو هغه نو موړی ښکاره بیان کړی دی له مخکې شکونو او شبهو څخه ازاله وسوه الله تعالی دې دا رسله فایده منده او مقبول وګرزوی او په هغه پاکو خبروکې داخله کړی چې دهغو په اړه (الیه یصعدالکلم الطیب) ویل سوی دی او د رسالې لیکونکې دی په هغه ټولي کې داخل کړی چې د دوئ په اړه ﴿وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ وَهُدُوا إِلَىٰ صِرَاطِ الْحَمِيدِ﴾ (۲۴ آیت سورة الحج) ویل سوی دی ، انتهی له همدی کبله دلوستونکو په وړاندی غوښتنه کیږی چې که مود مشابهت د مسئلې پوره څیړنه او تحقیق په کار وی نو التشبه فی الاسلام رساله وګوری په دې وخت کې دا ناچیز بنده په ډیر کوتاه ډول سره دا مسئله وړاندی کوی چې دهغې ډیره برخه د اقتضاء الصراط المستقیم و التشبه فی الاسلام څخه را اخیستل سوی ده او په ډیرو ځایو کې د مولا اشرف علی تهانوی قدس سره دبیلابیلو نصیحتو او خبرو چې د مشابهت په اړه سوی دی کوم امورچې ترنظر تیر سوی دی هغه هم په همدی لنډ لیک کې داخل سوی دی ددې لپاره چې درانه لوستونکی لپاره دسمې لارې دښودلو سبب سی ،، فاقول وبالله التوفیق وبیده ازمة التحقیق

سيف لودين كتابتون

نحمده ونصلي على رسوله الكريم !

په حديث نبوي کې راغلي دي (بدأ الاسلام غريبا وسيعود غريبا فطوبى للغرباء)
اسلام په پيل کې غريب وو بي ياره اومرستندويه وو هيڅ ملګري يې نه وو دخلافت راشده په وخت کې دلمراوسپوږمۍ په شيروځليدي اودقيصراوكسرى دحكومت له رانسكورولو وروسته روښانه سو اوپه خپل ساده ژونداودالله ﷻ په عبادت سره ابادوو چې دقيصراوكسرى دوې لوى امپراتورى يې تر پښولاندي کړې قيصر اوكسرى له پر مختګ اودبدبې سره سره له فراخي ځمکي وشړل سوچي ټولي نړۍ يې ننداره وکړه
دنبي كريم ﷺ دلس كاله غزاګانو اوبيادابوبكرصديق ؓ اوعمرفاروق ؓ لس كاله پرلپسي دجهاداوبرياليتوب غيبي مرسته وسوه چي ترزرو كالوپوري دځمکي پرمخ باندي اسلام واكمن وو اوداسلام پرمختګ اومعاشره ددنياپه هرګوټ ګوټ کې برلاسي وه ددنياقومونواسلامي ژونداوپرمختګ دځان لپاره دعزت سبب ګڼي دعباسيه خلفاء په وخت کې دعلم اوحكمت بازار ګرم وو اوكسب اوكار دنړۍ لوړپوړ ته رسيدلى وو اوداروپااوسيدونكي په هغه وخت کې يوناپوه اووحشي قوم وو دوئ له مسلمانانو څخه علم اوحكمت زده كړ اودكسب اوكارپرمختګ اوژوندسبق به يې له مسلمانانوزده كوى اودنيادپرمختګ په لوري ولاړه تردې مهال وروسته چي كله داسلامي حكومتو مشران دحكومت په نشه کې مست سو اودعيش اوعشرت ښكارسو دمير جعفراوميرصادق په څيرمنافقان ددوئ واكمن سو (لكه نن چي په افغانستان كي دامريكامزدوران دي لكه برهان الدين رباني ،صبغت الله مجددي، عبدالرب رسول سياف ، لوى ګوډاګي حامدكرزي . ګلبدين حكمتيار . اوداسي نورترياد ولوزيات دي) مترجم) نوتنيجه داسوه چي اسلام حكومتونه دګرنګ پرغاړه ودريدل اوداسلام ترلاس لاندي قومونه دقدرت پرسرراغله اوپه خپله بدعملي اوبداخلاقي سره پاچهان مريان اومريان پاچهان سو تريوڅه وخت خومسلمانانوته دخپل سپكاوى اودلاسه تللى عزت اوبدلون احساس وسو مګر ورو ورو مسلمانانوددوئ دژونداوتمدن ناسته ولاړه ومنل خبره ودې ته ورسيده چي داسلامي ملكونواوسيدونكي دنورو په ژوندكې رنګ سو چي دخپل اوپردى مسلمان اوكافر په ښكاره هيڅ توپيرنه سوپاته اودنبي كريم ﷺ دارشادمطابق سيعودغريبا اسلام بيرته دلومړۍ دورى په څيرياغريب اوبى كسه اوبى ياره اومرستندويه سو (انالله وانااليه راجعون) ددې وجه دانه دي چي په اسلامي ټولنه کې كومه خرابي ياكوتاهي وه اوپه نوى ډيموكراسي كي ښه صفتونه اوښه اخلاق اوښائست وو بلكې ددې وجه داده چي دنوى ټولني بستره په نفساني خواهشاتو اومزو اوچرچواو خوندواوپه نوم او شودني اوفخر باندي ...

پالنه کیږي چې طبعا دنفس داشیان ډیر خوښ دي اوداسلامي ژوند بستره په سادګۍ اوعاجزۍ اوتقوی اوپرهیزګاری اودالله ﷻ په عبادت اودنفس په مقابله کې خپره سوې وه چې هغه دنفس نه خوښیږي ابوبکرصدیق ؓ اوعمرفاروق ؓ داسې امیران اوحاکمان وو چې ددنیاترټولو ځواکمن قوتونه قیصر اوکسری هم له دوئ څخه ویریدل اوبلې خواته دینی ښوونکي هم ووشړه به یې اغوستل اودمسجدامامان به هم وو خلکوبه دوئ ته کتل اوخپل دین به یې سم صحیح کوی

دالله تعالی قضاء اوتقدیر دی لکه څنګه چې الله ﷻ عادیانواوثمودیانواوفرعون اوهامان ته دیوڅوشپولپاره واک ورکړی وو دغرب ودې لنډغروته چې کله داواک ورکړل سو دوئ سمدستي په نفساني خواهشاتودخلکوروزنه پیل کړه اوپټ شهوت پرستان راښکاره سو اوښکاره خبره ده چې له کوم شئ سره چې زور اودبدبه اودحکومت سرپرستي ملګري وی نوساده اوعام طبیعتونه په هغه کې جذب کیږي خصوصاپیاپه داسې ټولنه کې چې نفساني خواهشاتوته آزادی هم ورکول سی اودحکومت دسرپرستي په وجه دهغه په لاس ته راوړلوکې هیڅ مانع هم نه وی نوییشکه داسې ټولنه دالله ﷻ دمخلوق لپاره یوه لویه فتنه دی ،، افسوز چې نن صبامسلمانان هغه خواته دسیل په څیر روان دی اوکوم قومونه چې ددوئ ترمشرانواواسلافولاس لاندی وو په هغوئ پسې له شامنډی وهي اودخپلو مشرانوخویونه اوعادتونه اوددوئ جامه پریږدی او ورځ تربلې دګمرهانواوګمراه کونکویعنی دیهودو اونصاراوو سره مشابهت خوښوی

دحیرانتیاوړخبره دادی چې دمشرق رڼا دمغرب په تیاره بدلوی اې زمامسلمانانو وروڼو دادنیانړیدونکې سرای دی ﴿وَتِلْكَ الاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاء وَاللهُ لاَ يُحِبُّ الظَّالِمِينَ﴾ (۱۴۰آیت سورة آل عمران) کوم پرمختللی قوم چې دانبیاء علیهم السلام په مقابله کې ﴿فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوا مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللهَ الَّذِي خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ﴾ (۱۵آیت سورة فصلت) څوک ترموږډیر ځواک من شته نارې ووهلې اوپه پرمختګ اوآبادی کې په دیناکې پرمخ ولاړل لکه چې الله تعالی فرمایي ﴿وَعَمَرُوهَا اَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا﴾ (۹آیت سورة الروم) ﴿الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلاَدِ﴾ (۸آیت سورة الفجر اودالله تعالی درالیږل سوی پیغمبرانو(ع)په جامه ، لنګوټه ، اولنګ اوشړی پوری مسخروکولو انجام داسو چې ټول تباه اوبربادس ﴿وَاَمَّا عَادٌ فَاُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ﴾ (۶) ﴿سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ اَيَّامٍ حُسُوماً فَتَرَي الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَي كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ﴾ (۷) ﴿فَهَلْ تَرَي لَهُم مِّن بَاقِيَةٍ﴾ (۸) آیت سورة الحاقة)، ﴿وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ اَحَدٍ اَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزاً﴾ (۹۸آیت سورة مریم) دهیچانوم اونښان پاته نه سو څوک الله تعالی په اوبوکې غرق کړه اوڅوک یې په ځمکه ننه ایستل اوڅوک یې په چیغه سره هلاک کړل ﴿وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ وَاَصْحَابُ الاَيْكَةِ اُوْلَئِكَ الاَحْزَابُ﴾ (۱۳) ﴿اِن كُلٌّ اِلاَّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ﴾ (۱۴) آیت سورة ص)

سیف لودین کتابتون

اوس خپلی خبری ته راځو ! اود مشابهت له کفاروسره حقیقت درته بیانه وو !

اوس زه په لنډو ټکو کې د مسلمانانو په خدمت کې د مشابهت د مسئلې حقیقت وړاندی کوم او د مشابهت حقیقت روښانه کوم امید دی چی مسلمانان به دا په غور سره ولولی (ان ارید الا الاصلاح ما استطعت وما توفیقی الا بالله علیه توکلت والیه انیب :

د مشابهت حقیقت څه دی ؟

الله تعالی له ځمکی تر اسمانه ټول مخلوق که حیوانان دی او که بوټی اوونی دی او که غرونه او ریګونه دی ټول یې له یوی مادی څخه پیدا کړی دی او ټولو ته د وجود له یوه ستر خانه برخه رسیدلی ده مګر سره له دې د هر یوه بیل صورت او بیل شکل یې ورکړی دی د دې لپاره چی دوئ یو له بله سره وپیژندل سی ځکه د بیلوالی او جلاوالی ذریعه یواځی هم دا ظاهری بڼه او شکل او ظاهری رنګ دی په انسان او حیوان کې په زمری او خره په وښو او ګلانو کې په اشفزخانه او بیت الخلاء کې په بندیخانه او او درملتون کې چی کوم بیلوالی دی هغه یواځی په ښکاره شکل او بڼه او هیئت پر بنیاد دی که د یوی نوع یو فرد خپلی ځانګړتیا او بیلوالی پریږدی او د بلی نوع ځانګړتیاوی غوره کړی نو هغې ته د لومړنی نوعی فرد نه ویل کیږی بلکې هغه د دویمی نوعی فرد بلل کیږی که یو سړی د نارینه خوی او ځانګړتیا پریږدی او د ښځو خوی غوره کی د ښځو جامه واغوندی او د دوئ په شیر خبری کوی حتی چی هر څه ناسته ولاړه د ښځو په ډول کوی نو هغه سړی ته نارینه نه ویل کیږی بلکې نر ښځۍ ورته ویل کیږی او سره له دی چی دده نارینه والی خو په حقیقت کې نه دی بدل سوی بلکې د جامی او شکل او هیئت بدلون راغلی دی نو له دې معلومه سوه چی که په دې مادی عالم کې د هری نوعی خپله ځانګړتیا او بیلوالب سأتنه ونه سی او د ګډون او مشابهت دروازه پرانیستل سی نو بیا د هغه نوع شتون بیخی له منځه ځی

د قومونو او امتونو اختلاف !

د تیر په شیر د قومونو او امتونو اختلاف دی لکه څنګه چی د مادی کائناتو اختلاف دی د غه رنګه د دنیا د قومونو د خپل معنوی ځانګړتیاوو او وپتی بیلوالی په ذریعه سره یو له بله بیل او جلا دی مسلمان قوم ، هندو قوم ، عیسائی قوم ، یهودی قوم ، مجوسی قوم سره له دی چی دوئ ټول دیوه پلار اولاد دی خو بیلا بیل قومونه جوړ سوی دی د مذهب او دین له اختلافه پرته بله د اختلاف وجه داده چی د هر قوم ټولنه او د دوئ خوی او د دوئ ژوند او د دوئ جامه او د خوراک او څښاک طریقه بیله او جلا وی سره له دی چی دوئ یو الله ﷻ منی خو د هر یوه د عبادت صورت او طریقه بیله وی د عبادت د دې ځانګړتیاوو د ځانګړ یو شکلو او صورتو په وجه یو مسلمان او موحد وی او بل مشرک او بت پرست دوئ دواړه سره بیل او جلا دی یو عیسائی له ایرانی بیل دی لنډه دا چی په قومونو کې د بیلوالی ذریعه پرته د هغه قومی ځانګړتیاوو نور څه نه دی ...

سیف لودین کتابتون

او هیئت ساتنه ونه سي نو د قومو بیلوالی به رانه سي او ترڅو چي د هر قوم دیني او ټولنیزي ځانګړتیاوی پر خپل ځای وي تر هغه وخت به هغه قوم هم پاته وي او کله چي یو قوم خپلي ځانګړتیا او شکلونه پرېږدي او د بل پردي قوم ځانګړتیا غوره کړي نو دا قوم به هرومرو سره ګډوډ او ورکیږي نو پوه سه چي اوس به دا قوم نور نه پاته کیږي له دې وروسته به په دنیا کې د ده نوم او نښان هم ورکیږي ..

د مشابهت تعریف یا پیژندنه !

اوس ددې حقیقت له څرګندیدو وروسته د مشابهت پیژندنه واوری ددې لپاره چي د مشابهت بدی او ضررونه تاسو خپله اندازه کې :

(۱) خپل اصالت او خپل صورت او وجود پرېښودل او د پردي قوم په حقیقت او صورت او د هغه په وجود کې د ننوتلو نوم مشابهت دی

(۲) په نورو ټکو پیژندنه داسي دی خپل بدن د بل په بدن کې د ختمولو او نیستي کولو نوم مشابهت دی

(۳) یا د خپل هیئت او بڼی او طریقه بدلول او د پردي قوم لاره او هیئت غوره کولو نوم مشابهت دی

(۴) یا : خپل ځانګړي صفتونه پرېښودل او د پردي قوم د صفاتو غوره کولو نوم مشابهت دی

(۵) یا : خپل یاد خپلو بڼه او شکل او خوی پرېښودل او د پردو او بل چا د صورت او خوی نوم مشابهت دی

له همدې کبله شریعت حکم کوی چي مسلمان قوم له نورو قومو څخه په ظاهری شکل او بڼه باید بیل او جلا سي په جامه کې هم بیلیدل په کار دی او په ناسته ولاړه کې هم ځکه له ښکاره علامي پرته په بدن کې دیوې علامي راوستل ضروری دی چي هغه سنت کیدل (ختنه) او ږیره دی او هغه ظاهری علامه جامه دی پرته له دی دوو علامونه سي پیژندل کیدای خو یوائحي ږیره هم کافي نده ځکه که د هلکانو ږیره نه وی نو د دوئ پیژندنه به څنګه کیږي د غه رنګ یو شمیر نور قومونه هم ږیره لري له هغوئ به څنګه بیلیږي نو له دوئ څخه له جامي پرته په بل شئ نه سي بیلیدای له دې معلومه سوه چي د اسلامي بیلوالي لپاره د جامه او ږیری دواړه ټیاشته د مشابهت د منع حکم معاذالله تعصب او تنګ نظری نه ده بلکې غیرت او حمیت دی چي په دې سره د ملت اسلامي او امت مسلمه له نورو څخه بیلوالی دی او مشابهت له بربادی څخه ځان ساتل دی ځکه کوم قوم چي د خپلو خاصو خویو او بیلوالی خیال ونه ساتی هغوئ دیوه آزاد او مستقل قوم د ویلو حق هم نه لري

له کفارو یهودو او نصاراوو سره د مشابهت حکم !

(۱) له کفارو سره په اعتقاداتو او عباداتو کې مشابهت کفر دی او په دیني مراسمو کې حرام دی د نصاراوو په څیر پر سینه باندي صلیب ځړول او د هندوانو په څیر زنار (نیکټایي)

سیف لودین کتابتون

یا پرتندی باندی جوغه لګول داسی مشابهت له شکه خلاص حرام دی چی په هغه کې د کفر ویره ده ځکه په ښکاره د کفر شعائر غوره کول د هغه سړی د زړه د رضاء علامه ده .

(۲) او د مشابهت دویم قسم که څه هم تر لومړی قسم په درجه کې کم دی مګر د دواړو توپیر د وړو بولو او غټو بولو په څیر دی آیا څوک دواړه بولی څیښل خوښوی هیڅکله نه . په عبادت او مذهبی مراسمو کې او په اخترونو کې له کفارو سره مشابهت کول د قرآن په اشاراتو سره منع دی او په ډیرو صحیح احادیثو سره ثابت دی لکه چی حافظ ابن تیمیه رح په اقتضاء الصراط المستقیم کې تفصیلاً هغه آیتونه او روایتونه بیان کړی دی

په ټولنه او خویو او قومی شعائرو کې مشابهت کول مکروه تحریمی ده مثلاً د یوه قوم خاص رنګ جامه کارول چی خاص د دوئ ته منسوبه وی او د هغې جامی کارونکي د هغه قوم یو تن ګڼل کیږی ، لکه نصرانی خولۍ یعنی هیټ او د هندوانو هوتی او د جوګیانه جوتی دا ټول ناروا او منع دی او په مشابهت کې داخل دی په ځانګړی ډول بیا کله چی د فخر یا د انګریزانو د ښي جوړولو په نیت سره واغوستل سی نو نوره هم ګناه زیاتیږی د جادوګرو او کوډګرو په څیر ولاړه او ناسته غوره کول هم هغه حکم دی کوم چی د انګریز یا بل کافر سره د مشابهت حکم دی او د غه رنګه د کافرانو ژبه او د دوئ لهجه او د خبرو طرز په دی وجه غوره کول چی موږ هم د انګریزانو سره مشابه سو او د دوئ په ډول خبری وکړو او د دوئ په ډله کې داخل سو نو بیشکه دا منع دی هو که د انګریزی په زدکولو سره مشابهت مقصود نه وی بلکې یوائې ژبه زده کول مقصود وی چی د کافرانو له اهدافو خبر سی او له دوئ سره په تجارتی او دنیاوی کارو کې لیک لوست وکړل سی نو هیڅ ضرري نسته .. لکه څوک چی هندی او یا بله ژبه په دې وجه زده کوی چی د هندوانو او سکانو سره مشابهت وسی او هندوان ما خپل وطنی ورور وګڼی او په خپله ډله کې ما و شمیری لکه نن صبا چی په انډیا کې دا فتنه خپره دی نو بیشکه په دې نیت هندی ژبه زده کول منع دی او که یوائی په دې نیت وی چی د هندوانو له نیت څخه خبر سی او د دوئ لیکونه ولولی نو په داسی صورت کې د هندی ژبی په زدکولو کې هیڅ بدی نشته

(۴) مشابهت په تخنیکی کارو او نظم او سلاح او د جنګ په سامان کې روا دی د نورو پردو قومو لاری غوره کول روا دی لکه توپ جوړول ټوپک ، الوتکه موټر او مشین جوړول او داسی نور دا په حقیقت کې مشابهت هم نه دی ځکه شریعت اسلامیه د دې شیانو د ایجاد کولو طریقی نه دی ښودلی بلکې ایجاد او کاریګری یې د خلکو په عقل او تجربه او اړتیا باندی پری ایښي ده خود دې احکام یې بیان کړی دی چی کوم کاروبار او کسب جائز دی او تر کومه اندازی پوری جائز دی او په کومه طریقه د هغه کارول روا دی په اسلام کې د مقاصدو زدکړه شته د غیر مقاصدو زده کړه نسته مُوچی څپلی جوړونه تا ته

سیف لودین کتابتون

ستاپښنه زخمي کیږي دغه رنګه اسلام ایجادات نه بنې خود اراته وایې چې ایجاد داسې نه وي چې په هغه سره ستا په دین کې زیان اوخلل راسي یادځان ویره وي دادهغه نوي شیانو حکم دي چې دهغو بدل د مسلمانانو سره نه وي او کوم نوي شیان چې پیداسي او بدل یې له مسلمانانو سره وي نو په هغو کې مشابهت مکروه دي لکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول اللهﷺ د فارسي لیندۍ کارول منع کړه ځکه د فارسي لیندۍ بدل له مسلمانانو سره عربي لیندي وي اود دواړو یو کار کوي یوائې په جوړولو کې توپیر وو په اسلام کې تعصب نسته غیرت شته نو کوم شئ چې له مسلمان سره هم وي او له کافر سره هم شته یوائې په جوړونه کې توپیر دي نو په داسې صورت کې اسلام له کفارو سره مشابهت منع کړي ده چې په دې کې له ګناه پرته بې غیرتي هم شته چې پرته له څه اړتیا خپل ځان پردو قوموته اړکوي او دهغوئ تابع کوي یې مګر نن صبا په مسلمانانو کې غیرت نه دي پاته سوي دوئ له خپله کوره نه دي خبر بلکې داسې به ووایو چې خپل کورته اوراچوي او د پردیو خویونه او دژوند پیروي کوي د دوئ مثال داسې دي لکه مولانا روم چې وایې

یک سبد پرنان ترا بر فرق سر .... تو همي جوئی لب نان در بدر

تا بزانو ئی میان قعر آب .... وز عطش وز جوع ګشتی خراب

هو د کومې نوې جوړې سوې سلاح بدل چې له مسلمانانو سره نه وي د مسلمانانو لپاره دهغه نوي سلاح استعمال د خپل اړتیا او دفاع لپاره روا دي خو شرط دادي چې دهغې په کارولو سره نیت او اراده له کافرانو سره مشابهت نه وي یوائې د خپلې ګټې لپاره نوي سلاح او د نوي جوړ سوي یو شیانو کارول شرعاً روا دي خو له کافرانو سره د مشابهت په نیت دهغې سلاح استعمالول هم نا روا دي

د شرابو په طریقه که شیدې پر ناستو خلکو وګرزي او وویشل سي نو شریعت اسلامي دا منع کړي دي د شیدو په استعمال کې د شرابو مشابهت کول د دې خبرې دلیل دي چې د دې سړي په زړه کې له شرابو سره مینه ده او د میني یو پټ بلونکي شته چې دا سړي و دې ته بولي

دغه رنګه دیو رواشي کارول د کافرانو سره د مشابهت په نیت او د دین له دښمنانو سره د مشابهت په نیت د دې خبرې دلیل دي چې د ده په زړه کې له کافرانو سره مینه او هغه خواته میلان دي نو لکه څنګه چې ستاسو د خپلو دښمنانو مشابهت نه دي خوښ دغه رنګه د الله تعالی هم نه دي خوښ چې دهغه دوست یعنې مسلمان دي دهغه د دښمن یعنې کافر مشابهت غوره کي یادې د دوئ د مشابهت په نیت یو کار وکوي د الله تعالی ارشاد دی ﴿وَلَا

تَرْكَنُوْا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ﴾ (۱۱۳ آیت سورة الهود)

سیف لودین کتابتون

له کافرانو سره د مشابهت د ناروا والی دلیل !

دین اسلام پوره سپیڅلی او پاک دین دی د ټولو ادیانو او شریعتو ناسخ دی دین اسلام خپلو پیروانو ته اجازه نه ورکوی چی د ناقص او منسوخ دین مشابهت غوره کړی د پردو مشابهت غوره کول د غیرت هم خلاف دی که څوک یې لری
لکه څنګه چی د هر دین او امت حقیقت بیل دی دغه رنګه د هر یوه صورت او بڼه هم بیله ده په نړۍ کی ظاهری شکل او صورت د پیژندلو لاره ده کله چی یو قوم له بل قوم څخه بیلوی نود ظاهری ژوند په بنیاد باندی بیل ګڼل کیږی
کله چی یو قوم د بل قوم ځانګړتیاوی او خویونه او د هغوئ صورت او بڼه غوره کی نو د دوئ خپل ځانی قومیت او استقلال نیستی کیږی او ښکاره خبره ده چی خپل قومیت او خپل شخصیت د بل په قومیت او شخصیت کې نیستی کول سراسر د غیرت خلاف کار دی اسلام یو کامل دین دی لکه څنګه چی په عقائدو او عباداتو کې مستقل دی د هیچا تابع او پیرو نه دی دغه رنګه اسلام په خپله ټولنه او اخلاقو کې هم ځان ته استقلال لری د هیچا تابع او غاړه ایښودونکی نه دی په هیڅ حکومت کې دا نه دی روا چی د هغه پاچهی فوځ د ښمنانو د فوځ وردی وکاروی یادې د خپل فوځ له یوی ډلګی سره د دښمن بیرغ وکاروی کوم فوځ چی داسی لاره غوره کی هغه د سرپریکولو قابل ګڼل کیږی
دغه رنګه حزب الله د الله ﷻ ډله مسلمانانو ته دا اجازه نه ورکوی چی د حزب الشیطان د شیطان د ډلی هیئت غوره کی چی دده په لیدلو سره لیدونکی نه پوهیږی چی دا څوک دی مسلمان دی که کافر یا مثال ته یې فرض که یوه ډله له حکومت څخه بغاوت کوی او هغه ډله خپل ځان ته یو بیل نشان غوره کوی نو حکومت خپلو وفادارو ته هیڅکله د دې باغی ډلی د نشان اجازه نه ورکوی خو د حیرانتیا ځای دا دی چی یو برطانوی یا امریکائي جنړال ته دا حق شته چی هغه د جرمنی یا روسی عسکر وردۍ کارول جرم ګڼی ځکه هغه د برطانیه دښمن دی مګر د الله ﷻ رسول ﷺ ته دې دا حق نه وی چی هغه د الله ﷻ د دښمنانو ناسته ولاړه جرم وګڼی من تشبه بقوم فهو منهم څوک چی د الله ﷻ له دښمنانو سره مشابه جوړ سی او د دوئ په څیر جامه او د دوئ په څیر پتلون واغوندی نو هغه بیشکه د الله ﷻ د دښمنانو له فوځ څخه شمیرل کیږی
اسلام نور او رڼا دی.. کفر تیاره او بربادی دی.. اسلام حق دی.. کفر باطل او ناروا دی
اسلام حسن مطلق دی.. کفر قبح مطلق دی..اسلام روښانه ورځ دی.. او کفر تکه توره شپه دی
......اسلام عزت دی .... او کفر ذلت او رسوای دی
نو ځکه اسلام خپلو منونکو ته د تیاری او سپکوالی جامه اغوستل او د دوئ په شکل ځان ... اجازه نه ورکوی د دی لپاره چی ګډون رانه سی لکه څنګه چی دا اسلام حقیقت

سیف لودین کتابتون

دکفرله حقیقت ځخه بیل اوجلادی دغه رنګه اسلام داغواړی چی دده دمنونکی صورت اوشکل اوجامه هم دده له دښمنانو ځخه بیله وی ..

خلاصه دخبری !

په شریعت اسلامی کې له کافرانوسره دمشابهت منع کیدل پرکوم تعصب باندی نه دی بناء بلکې په غیرت اوځان ساتنه اوخودمختاری بناء دی ځکه یوقوم ترهغه وخته پوری مستقل نه سی پاته کیدای ترڅوچی خپلی ځانګړتیاوی اوخپل خویونه ونه ساتی

دغه رنګه ددین اسلام اوامت اسلامیه له کفریهودیت اونصرانیت اوزندیقیت ځخه دساتلوبله لاره نسته پرته له دی چی اسلامی ځانګړتیاوی ونه ساتل سی اوله کافرانوسره له مشابهت اوورته والی خوندی نه سی ځکه دمشابهت معنی خپل ځان دبل په وجود کې نیستی کول دی قال الله تبارک وتعالی ﴿یَا اَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا تَکُونُوا کَالَّذِینَ کَفَرُوا﴾ ۱۵۶ آیت سورة آل عمران) ژباړه : اې هغه کسانوچی تاسو ایمان راوړی دی له کافرانوسره مشابه اوورته مه ګرزی.

مؤمن دالله ﷻ دوست دی اوکافردالله ﷻ دښمن دوست بایدله دښمن ځخه بیل سی دحکومت دپلوی لپاره دانه دی جائزچی هغه دحکومت له دښمنانواوباغیانوسره ورته والی اودباغیانوپه رنګ جامه اولباس واغوندی

وقال الله تبارک وتعالی ﴿یَا اَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا تَکُونُوا کَالَّذِینَ آذَوْا مُوسَی فَبَرَّأَهُ اللهُ مِمَّا قَالُوا وَکَانَ عِندَ اللهِ وَجِیهاً﴾ (۶۹ آیت سورة الاحزاب) ، وقال الله تعالی ﴿اَلَمْ یَأْنِ لِلَّذِینَ آمَنُوا اَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِکْرِ اللهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا یَکُونُوا کَالَّذِینَ اُوتُوا الْکِتَابَ مِن قَبْلُ فَطَالَ عَلَیْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَکَثِیرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ﴾ (۱۶ آیت سورة الحدید)

اې مومنانوله هغه خلکوسره مشابه مه کوی کوموچی موسی علیه السلام ته ضرررسولی وو ..

آیادمسلمانانولپاره وخت نه دی راغلی چی دالله ﷻ یادونه اودهغه دنازل کړی حق په مخ کې ددوئ زړونه عاجزی وکوی اودهغه مشابه دې نه جوړیږی کوموته چی مخکې کتاب ورکړل سوی دی یعنی د یهودواونصارا مشابه دی نه جوړیږی اوپردوئ باندی ډیره زمانه تیره سوی ده نوددوئ زړونه سخت سو اوډیرپه دوئ کې بدکاره دی ..

یعنی داندیښنه ده چی که تاسودیهوداونصاراوومشابهت غوره کې نوستاسوزړونه به هم ددوئ په شان سخت سی اودحق دقبولولوورتیابه موله زړوولاړه سی

علامه ابن حجرمکی هیثمی په خپل کتاب الزواجر عن اقتراف الکبائرجلد ۱ /ص / ۱۱کې دمالک بن دینارمحدث په روایت سره دیونبی علیه السلام وحی رانقل کړی ده هغه داسی

(قال مالک بن دینار اوحی الله الی النبی من الانبیاء ان قل لقومک لاتدخلوا مداخل اعدائی ولایلبسوا ملابس اعدائی ولایرکبوا مراکب اعدائی ولایطعموا مطاعم اعدائی فیکونوااعدائی کماهم اعدائی (کتاب الزواجر جلد۱/ص/۱۱)

سیف لودین کتابتون

ژباړه : مالک بن دینا وايې چې په مخکنیو انساء علیهم السلام کې یو نبی علیه السلام ته د الله ﷻ له طرفه داسې وحی راغله چې اې نبی علیه السلام خپل قوم ته ووایه چې زما د دښمنانو ددا خلیدو ځایو ته مه داخلیږئ او مه زما د دښمنانو په څېر جامې اغوندئ او مه زما د دښمنانو په څېر خوراک کوئ او مه زما د دښمنانو په څېر سپرېږئ یعنې په هرشئ کې له دوئ بېل او بېزاره سئ هسې نه چې تاسو هم زما د دښمنانو په څیر زما دښمنان سئ ..

د دې وحی آخرې جمله (فیکونوا اعدائی کماهم اعدائی) داسې دی لکه چې په قرآن کریم کې د مسلمانانو لپاره له کافرانو سره د ناستې ولاړې څخه منع سوې ده الله تعالی داسې فرمايلي دي ﴿إِنَّكُمْ إِذاً مِّثْلُهُمْ إِنَّ اللهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعاً﴾ (۱۴۰ آیت سورة النساء)

په دغه وخت کې به تاسو هم د دوئ په څیر سئ ، او په بل آیت کې الله تعالی فرمایلي دي ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاء بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾ (۵۱ آیت سورة المائدة) ځکه چې له کافرانو سره دوستي کوي هغه به له دوئ څخه شمیرل کیږي ،، او په حدیث شریف کې راغلي دي (من تشبه بقوم فهو منهم) ځکه چې له بل قوم سره مشابهت کوي نو هغه به هم له هغه قوم څخه شمیرل کیږي ..

له پردو سره د مشابهت د تاوانو او ضررو پایلې او نتیجې !

د پردو په څیر ناسته ولاړه او د دوئ په څیر نیکر پتلون نیکټایې ډیره خریل او په چوکۍ کې خوراک کول او هلکانو او نجونو ته یو ځای تعلیم ورکول په دې کې ډیر فساد و نه او زیان دی

(**لومړی**) لومړنۍ پایله خو به داوي چې په کفر او اسلام کې به ښکاره هیڅ بیلوالی پاته نه سی او حق دین به له باطل دین سره ګډوډ سی که رښتیا و وایو نو حقیقت دادی چې له عسایانو او یهودو سره مشابهت معاذالله د عسویت او یهودیت دروازه پرانیستل دی

(**دویم**) دا چې له پردو سره مشابهت خوښول د غیرت هم خلاف دی قومي نښه او قومي پیژندنه خو هم یو شئ دی چې په هغه سره دا ښکاره سي چې دا سړی د فلانی قوم دی نو که دا ضروري وي چې ستاد قوم پیژندنه وسي نو د پردو قومو جامې مه اغونده لکه څنګه چې انګریزان ستا جامه نه اغوندي دوئ د خپلې جامې پابند دي دغه رنګه د اسلامي غیرت هم دا غوښتنه ده چې ته د خپلې اسلامي جامې پابنده سه او د پردو خلکو په مقابل کې خپل ځان په دوئ و پیژنه د دوئ په شان مه کیږه

(**دریم**) د کافرانو یهود او نصاراوو جامه او ټولنه او هغسې ژوند غوره کول په اصل کې د دوئ مشرۍ او امارت منل دي

بلکې د خپل سپکوالی او تابع کیدو اقرار او اعلان دی او اسلام د دې اجازه نه ورکوي ځکه ښکته سړي د لوړ سړي ناسته ولاړه غوره کوي نه برعکس مریئ د بادار په پیروۍ باندې مجبوروي او د ده د خوشالۍ لپاره د ده په څیر جامه اغوندي اسلام یو پوره او سپیڅلی دین دی نو هغه د دې د بل چا پیروي ولې وکوي

سیف لودین کتابتون

(**څلورم**) دغه رنګه ددې مشابهت یوه پایله داکیږي چې ورو ورو له کافرانوسره مشابهت په زړه کې ودوئ ته میلان اوبلونکې پیداکیږي چې داصراحتًا کفردی(۱) لکه چې الله تعالی فرمایي ﴿وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ﴾ (۱۱۳آیت سورة الهود) ژباړه : وهغه خلکوته مه مائل کیږئ کوم چې ظالمان دی هسی نه چې اور درورسیږي اودالله ﷻ څخه پرته ستاسو هیڅ مرستندوئ نسته بیابه له تاسوسره هیڅ مرسته نه کیږي .

بلکې دکافرانوجامه اوددوئ دشعائروغوره کول لکه کرسمیس یانوروز ددوئ دمینې علامه ده چې داشرعاً منع دی لکه چې الله تعالی فرمایلی دی ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾ (۵۱آیت سورة المائدة) ژباړه : اې مؤمنانوله یهودو اونصاراوو سره دوستی مه کوئ دوئ په خپل منځ کې یودبل دوستان اوملګري دي دوئ ستاسودوستان نه دي اوپه تاسوکې چې چاله دوئ سره دوستی وکړه هغه به له دوئ څخه شمیرل کیږي رښتیاهم الله تعالی ظالمانوته سمه لارنه ښیي

آیاداښکاره ظلم اوتیری نه دی چې دعوی دایمان اواسلام کوی یعنې دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ دمحبت اومینې دعوه کوی مګر صورت اوشکل ناسته ولاړه اوجامه دی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ ددښمنانووی، هیڅ یوپاچا اوهیڅ یوحکومت هیڅکله داخبره نه منی چې ددوئ یوملګری اودوست دی ددوئ له دښمنانوسره دوستی اوښې اړیکې اوتجارت اوله هغوئ سره ناسته ولاړه خوښه کې بلکې دایوقانونی جرم بولی نوکه ددنیایوحکومت اوپاچاداغواړي چې له خپلودښمنانوسره داسې چلندوکوی نواحکم الحاکمین ﷻ چې دخپلودښمنانواودخپلووزیرانوانبیاء علیهم السلام ددښمنانوسره اړیکې پریکول اوله دوئ سره ناسته ولاړه اوپه هیئت اوشکل اوجامه کې له دوئ سره دمشابهت منع کوی نوپه دې باندې ولې مخ اوپوزه مښې

(**پنځم**) له دې وروسته به وروورو داسلامي جامې تمدن پسې خندااوټوکوټوکولووخت راځي اسلامي جامه به سپکه ګڼل کیږي اوخامخابه دهغه اغوستونکې هم سپک ګڼل کیږي که اسلامي جامه سپکه نه بولی نوبیاولې دغرب پتلون اونیکټایې دځان لپاره افتخاربولی اې دغرب مزدورانو

(**شپږم**) داسلامي احکاموپه جاری کولوکې به ستونزی پښیږي مسلمان به دیهودی په شکل ووینی ته به داګمان پرکوی چې دایو یهودی یاعیسایی یاهندودی اوکه کوم داسې نامعلومه مړی پیداسی چې څوک یې نه پیژني اوشکل یې دیهودي یاعیسایې وی مسلمانان به په دې نه پوهیږي چې موږاوس دجنازي لمونځ پروکوو اوکه نه اوپه کومه

(۱)کتاب الزواجر جلد۱/ص/۱۱/

سیف لودین کتابتون

(**اووم**) کله چې اسلامي جامه اولباس پرېږدي اودغربيانو اوهندوانوجامه غوره کي نوپه قوم کې به ستاسوهيڅ عزت پاته نه سي اوکله چې ديوچاپه خپل قوم کې عزت پاته نه سي نوپه بل ځاى کې به يې څه درناوى وسي نوربه څنګه دده عزت وکړى ځکه ده په خپل قوم کې عزت اودرناوى له لاسه ورکړى دى

(**اتم**) دپردي قوم جامه غوره کول دخپل قوم سره داړيکوپريکول يوښکاره دليل دى.

(**نهم**) افسوز دى ستالپاره اې غربي مزاجه ګوډاګيه دعوى خوداسلام کوى خوجامه اوخوراک اوڅښاک اوټولنيز ژونداوژبه ټول دې داسلام ددښمنانو غوره کړى دى کله چې ددې په نامه مسلمانانوحالت داسى وى نوداسلام دعوى ته هم څه اړتيانسته داسلام وداسى مسلمانانوته هيڅ اړتيانسته اونه يې په وتلوپرواشته چې څوک دهغه ددښمنانو سره مشابهت دځان لپاره دعزت اودرناوى اوفخرسبب ګڼي ..

زه نه پوهېږم چې آخر دکافرانوجامه غوره کولوڅه اړتياپيښه سوه اوکوم مصلحت راپورته سو بيله اړتياد کافرجامه غوره کول مطلب خوداسي معلومېږى معاذالله چې راځي چې موږهم کافران سو که څه هم دهيئت اوشکل په اعتبارسره وى

ياپه نورو الفاظو داسي ووايو !چې راځى دخپلودښمنانوجامه پتلون اونيکټايې موږهم له دوئ سره دوفادارۍ دښکاره کولولپاره وتړو اوددوئ په شکل اوهيئت ځان جوړکړو اوداسلام ددښمنانودوستان جوړسوديهودو اوعيسايانواوټولوکافرانودښمنى ترلمرروښانه ده لکه چې قرآن اوحديث ددې خبرورکړى دى (ان الكافرين كانوالكم عدوامبينا) دهندوستان دويشلوپه وخت کې له اسلام سره دعيسايانودښمنى وليدل سوه چې څومره ډيره سيمه برطانيې وهندوانوته ورکړه اومسلمانان بې برخې پاته سو برطانيې له اروپاڅخه ځلورلکه يهوديان راوستل اوپه فلسطين کې ميشت کړه اوپه دې طريقه يې فلسطين وويشى ددوئ دهمدې ويش پربناء باندى برطانيه ته په کاروو چې دفلسطين دويش په ځيرېږ بايددهندوستان ويش کړى واى په اوسنى وخت کې ديهوديانواومسلمانانوآبادى په فلسطين کې اته سوه زره ده اودهندوستان يوائي دپوپې په ولايت کې دمسلمانانوشمير ترآتيالکه اوړى دفلسطين دويشلو په اصولوسره په پوپې ولايت کې هم داتيالکه مسلمانانويوجلا رياست جوړول په کاروو خوتاسوهرڅه هندوانوته ورکړه ځکه دوئ هم کافران اوتاسوهم کافران ياست کافران دکافرانودوستان وى نه دمسلمانانو لنډه داچې دعيسايانوله مسلمانانوسره دښمنى ترلمرهم روښانه ده خوموږپه دې نه پوهېږو مسلمانان ولى دخپلودښمنانوخوى اوعادات خوښوى اصل وجه داده چې خلک انګريزى جامه اوناسته ولاړه داسى ګڼي چې داسى شکل جوړيدل دحکومتي خلکواوزورورو خلکوويونوموږهم داسې جامه اغوندو

سیف لودین کتابتون

دانګریزانو په شکل معلوم سو او خلک د زوروراو ظالم او دیوه انګریز یا امریکایي په ستر ګه راته وګوري او عزت او درناوی موو سي
مګر افسوز چې عزت او دبدبه خو په دې لاس ته راځي چې د پردو په مقابله کې جهاد و کوي او د دوئ دو داو دستور پرېږدي پر خپل قوم او په خپلو خپلوانو باندې د دبدبه ساتلو لپاره عزت او دبدبه نه حاصلیږي دقومیت دعوې خو داده مګر دخپل قوم له ټولنې څخه ستا بیزاري او د پردو قوم و له ټولنې سره ستامینه او محبت ښکاري دګونګټ په څیروخت پروخت خپل رنګ بدلوي دغرب وحشیانو ته ګوري کله په یوه رنګ برګ پتلون او کله تور کله یو رنګ او کله بل رنګ معلومیږي کوم فیشن او جامه چې دوئ خوښه کړي هغه جامه او فیشن دي دغرب عاشقانو بیا خوښه کړي وي څوک چې پرچا عاشق وي هغه به د معشوق په مخکې سپک او ذلیل وي او ستا سو خوښه ده چې الله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ او خلفاء راشدینو ﷺ او د دوئ د پاکې ټولنې عاشقان ځانونه جوړوي او که د امریکا ، برطانیه ، چین او روس دځناورو وحشیانو ظالمانو د ټولنې او اخلاقو عاشقان جوړیږي ښه پوه سي چې دعشق بنیاد پر ذلت او ښکته والې دي او دغرب وحشیان به تاسو ته په بدل کې ایډز یا بله داسي ناروغي درکوي ..

د پرمختګ راز حکمت !

درناورځي په څیر دا خبره روښانه ده چې د اسلام رڼا د مکې مکرمې له کنارو څخه د ځمکې پر مخ وغوړیده چې په لږ وخت کې یې د مسلمانانو شکل په ټوله نړۍ کې خپور کړ او دیني او دنیاوي پرمختګ دوئ ته په لاس ورغلي او د شریعت په خپرید و کې چې مسلمانانو ته کومه فراخه پاچهي په لاس ورغله د دې سبب دانه وو چې دوئ د وخت د پاچهانو رواج سوي علوم په ډېره تیزې سره حاصل کړه یا په تجارت او کسب او کار کې دوئ لوی لاس درلودی یا یې د سود کاروبار په فراخه پیمانه خپور کې اصلي سبب او لامل دا وو چې د اسلامي شریعت مشال د دوئ لارښوونکي او رهنما وو او د نبي کریم ﷺ پیروي د دوئ قوت او همداد دوئ لښکرو او همداد دوئ سلاح وه او د دوئ بریالیتوب او بیرغ وو چې په څو ورځو کې دوئ یوه لویه پاچهي جوړه کړه چې په هغې کې د قیصر او کسرې لوی پاچهي له خاورسره خاوري سوې دا یوه داسي ښکاره خبره ده چې پر دې باندې د دلیل ویلو اړتیا هم نسته او دیهودو او نصاراوو ملعونینو تاریخ پوهان ودې ته حیران دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه مکرمه کې راولیږل سو او یوائځې د عربو وحشیان او ناپوهان او ځاروانانو ته یې دالله ﷻ دیو والي سبق ولوستی او د اسماني کتاب ښوونه یې ورته وکړه یوې خواته خویې دالله ﷻ د بندګۍ او پیژندنې څخه خبر کړه او بلې خواته یې دوئ ته داسي پاچهي او انصاف او برابري و ښودله چې دهغه په نتیجه کې په څو ورځو کې دیو داسي فراخ حکومت مالکان سو سره له دې له دوئ سره نه څه مال او شتمني وه او نه کوم فوځ او طاقت وو او نه دوئ د پردو قوموعلوم او فنون زده کړي وو او نه یې سود حلال ګڼلی وو دا ټول د شریعت د تابعداري او پیروي برکت وو

سیف لودین کتابتون

درسول الله ﷺ له وفات وروسته ابوبکرصدیق رضي الله عنه درسول الله ﷺ خلیفه سو نوهغه هم دخپل خلافت په وخت کښ دشریعت پابندی پوره پوره وکړه اودده دخلافت په وخت کښ چی کوموقوموډزکوة له ورکولوڅخه انکار وکی نوابوبکرصدیق رضي الله عنه دوئ ته فوځ ولیږی اوداقسم یې وکړچی دې خلکوچی دنبی کریم ﷺ په وخت کښ کوم زکوة ورکوی که ترهغه یوه رسۍ هم کمه وی اووی ګرزوی نوزه به جهاد ورسره کوم اوله مرتدینو اودنبوت له دعوه کونکوسره یې جهادوکې اوهغوئ ټول یې تیرتیغ تیرکړه هغه پاته مرتدین یې اسلام ته راوبلل دغه رنګه ددویم خلیفه عمرفاروق رضي الله عنه دخلافت په وخت کښ چی کوم عزت اودبدبه وه هغه هم دشریعت دپیروی برکت وو ددنیالوی لوی پاچهان به له هغه څخه ویریدل

نه پوهـ سـه چی دکوم نبی ﷺ (فداه نفسی وابی وامی) دپیروی په برکت سره صحابه کرام رضي الله عنهم ته دذوالقرنین اوسلیمان علیه السلام په شیرحکومت اوپاچهی په لاس ورغله چی په پایله کښ یې دقیصر اوکسری تخت پرمخښ رانسکورسو اوددوئ فوځونه اوددوئ ټولنه ټول دصحابه کرام رضي الله عنهم ښکارسو نواې مسلمانانوتاسوبه هم هغه لاره غوره کوی بیابه تاسوپرمختګ اوبریالیتوب وی دامام مالک رحمه الله ارشاددی (لایصلح آخر هذه الامة الابماصلح به اولها) ژباړه: ددې امت اخری خلک به نه اصلاح کیږی مګر په هغه څه چی دامت لومړنی خلک کامیابه سوی وواواصلاح سوی وو

اسلامی شریعت دحکومت کولوداسی اصول ایښي دی چی هغه دنیانه هیڅ وخت لیدلی اونه اوریدلی وو دهغه په پیروی سره به پرمختګ راځی دپردو په پتلون اغوستلوسره پرمختګ نه راځی دپرمختګ راز له یهودواونصارااووسره په مشابهت باندی نه دی ولاړیوائې جامه ذلت اوسپکوالی نه سی لیری کولای بلکښ دنبی کریم ﷺ دنمونی په پیروی باندی دی لکه څنګه چی دخلفاء راشدینو رضي الله عنهم اودبنی امیه خلفاء اوعباسیه خلفاء په وخت کښ کوم پرمختګ سوی دی هغه دکافرانوپه مشابهت سره نه وو بلکښ دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په اتباع اوپیروی باندی بناء وو

بلکښ زموږدښکته والی اوپرشاتګ اصلی لامل له پردوسره مشابهت دی اود انبیاء علیهم السلام له مشابهت څخه اوښتل ددې سبب دی اوبل داچی دافکرکول چی اسلامی جامه دانګریزانوپه سترګوکښ د سپکوالی سبب دی نوداهسی خیال دی دعزت اودرناوی دارومدارپه قابلیت پوری تړلی دی نه په جامه پوری

په اسلامی جامه کښ بی عزتی نسته بی عزتی خودپردوپه جامه کی ده په لندن کښ یو کانفرانس جوړسو ډیری هندوان مشران په انګریزی جامه کښ ولاړل مګر ګاندهی په خپل لنګ کښ ولاړی نودبرطانیه حکومت چی کوم عزت وبربنډ ګاندهی ته ورکی هغه یې دانګریزی جامی اغوستونکی ته نه دی ورکړی په ډهلی کښ ډیردربارونه وسو دریاست چی کو م چارواکی لائق اوقابل وو اوپه اسلامی جامه کښ به راتلل دهغوئ درناوی اوعزت به ترپتلون اوکوټ اونیکټایې والازیات کیدی **نه پوهـ سـه** چی مسلمانان چی

سیف لودین کتابتون

له مسلمان څخه نه راضي کیږی ترڅو چې مسلمان دخپل دین اسلام تابع وی لکه چې الله تعالی فرمایلی دی (﴿وَلَن تَرۡضَيٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَارَيٰ حَتَّيٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡ﴾۱۲۰آیت سورة البقرة)

ای مسلمانانو : که پرمختګ غواړی نو هغه لاره غوره کي په کومه لاره چې دلومړۍ پیړۍ خلک تللی دی او په څلورکونجه دنیاکې یې داسلام اعلان کړی دی لکه چې ددنیا تاریخ ددې شاهدی ورکوی چې کومه دبدبه اوبریالیتوب اوفتح اوپرمختګ اوپوهه اوفنی او اخلاقی پرمختګ چې دخلفاء راشدین ﷺ اوبنی امیه خلفاء اوعباسیه خلفاء په وخت کې دمسلمانانو سوی دی امریکا اوبرطانیه ته یو وخت هم نه دی په لاس ورغلی

دغرب ځناور دعربو ترنا پوهانو ډیر وحشیان وو دعباسیه خلفاء په وخت کې دعلم اوحکمت چې کوم پرمختګ وسو هغه بل هیڅ وخت نه دی سوی دغرب وحشیان به راتلل اوله مسلمانانو به یې علوم اوفنون زده کول اوخپلی ژبی ته به یې ژباړل اوپرمختګ چې کوم منزل ته رسیدلی وو هغه دنیا ولیدی اوس اسلامی مشرانو ته په کاردی چې نوی علوم خپلی ژبی ته رانقل کړی ددې لپاره چې عام مسلمانان له دې ګټه واخلی اوپه پوهاتنونو کې دخپلو خپلوانو څورلس کاله تکلیفونه اوډیری روپۍ یواځي دپردی ژبی انګریزی دزدکړی لپاره مصرف نه کړی

دغرب دجامی اقتصادی پایلی !

مخکې به ډیری جامی په کورکې کنډل کیدی په ځانګړی ډول دښځوجامی خوبه درځی یاخیاط ته وړل ډیر دپیغورخبره وه خوکله چې دغرب دفیشن دروازه پرانیستل سوه نودټول کور جامی درزیانوته یووړل سوی په ګټه کې خوزیادت نه وسوخوپه خرچه کې زیادت راغلی اوس به دکورغړی یاقرض کوی یابه دمال دلاس ته راوړلولپاره نارواکاروی دانګریزی سازوسامان لپاره خودانګریزانوپه شان شتمنی هم په کارده مګر ستونزه داده چې هروخت دغرب دعاشقانوپه دماغ کې داخبره وی چې هرڅنګه کیږی زه په ډیرورو پوپتلون رانیسم اوپرمیزبه ډوډۍ خورم اودانګریزانوپه څیرژوندبه تیروم

له دې اسلام بدناموونکوڅخه پوښتنه کوم چې تاسوپه کومه وجه انګریزی جامه په اسلامی جامه باندی غوره بولی که وجه داوی چې په اسلامی جامه کې بدنی تاوانونه یاموضرر احساس کړی وی نوهغه بیان کي ددې لپاره چې پرهغه باندی فکروکړل سی چې په اسلامی جامه کې بدنی ضررونه دی اوکه په انګریزی جامه کې دی اوکه لامل داوی چې په اسلامی جامه کې سپکوالی لیدل کیږی نوبیاکه داخبره وی نوبیاداسلام ددعوی هم ضرورت نسته غربیان خوهسی هم اسلام اومسلمانان سپک ګڼی ﴿وَلَن تَرۡضَيٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَارَيٰ حَتَّيٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡ﴾۱۲۰آیت سورة البقرة)

اسلام ته داسی مسلمانانو هیڅ اړتیا نسته چې ګونګټ په څیرهروخت رنګ بدلوی اودهر نوی ماډل عاشق وی اوداستقلال اوخودمختاری څخه رانده وی څنګه چې دغرب ماډل

سیف لودین کتابتون

وی دوئ هم په هغه رنګ کې ليدل کيږی ددوئ دين ډيموکراسی اوداسلام دښمنی پرمختګ دی دچاپه طبعت کې چی استقلال اوخودمختاری نه وی هغه آياهغه دحکومت کولووړدی دچاپه مزاج کې چی استقلال اوخودمختاری نه وی هغه حکومت کولای سی

حاصل دخبری داسو : ترڅوچی مسلمانان دخلفاء دشريعت تابعداری کوله ترهغه وخت واکمن اوپاچهان وواودددښمنانوپه سترګوکې ددوئ عزت اوويره پرته وه اودښمنان زړونه له دوئ څخه لړزيدل اوداالله ﷻ مرسته له دوئ سره وه لکه چی الله تعالی فرمايلی دی ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ﴾ (۷سورة محمد) ﴿وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ (۱۳۹آيت سورة آل عمران) ژباړه : اې مؤمنانوکه تاسوداالله ﷻ ددين مرسته وکوی نوالله ﷻ به ستاسومرسته وکوی اوستاسوپښې به ټينګی کړی اوتاسوبه غالبه ياست ترڅوتاسوپراسلام ټينګ ولاړياست

وروسته چی بياوخت پروخت دمسلمانانوپه واکمنوکې دشريعت دپاندی خيال ورک سو اوپه عيش اوعشرت اونفسانی خواهشاتوکې غرق سوهغومره داسلامی خلافت بنيادنړيدی اوداسلامی حکومت دايره کوچنی کيدله ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَالٍ﴾ (۱۱آيت سورة الرعد) ژباړه : الله تعالی ديوه قوم حالت نه بدلوی ترڅوپوری چی دوئ په خپله په خپل حالت کې بدلون پيدانه کړی .. يعنی الله تعالی هيڅوک له خپلی مهربانی اوساتنی څخه نه بی برخی کوی ترڅوپوری چی هغه خپل ځان اولاره له الله ﷻ سره بدله نه کړی

دمشابهت په فساداوتاوانوباندی دعمرفاروق رضی الله عنه وينا !

دعمرفاروق رضی الله عنه دخلافت په وخت کې چی کله داسلام دبرياليتوب اوفتحودايره لمن فراخه سوه اودقيصراوکسری دحکومت تخت پرمخې نسکورسو نوعمرفاروق رضی الله عنه ته يوه لويه انديښنه پيداسوه هغه داچی دعجميانوپه ګډون سره په اسلامی ځانګړتياوو اوخويوکې کوم بدلون رانه سی له دې امله يې مسلمانانوته حکم وکی چی له پردوسره له مشابهت ځان وساتی اوددوئ په څيرهيئت شکل اوجامی ناسته اوولاړه مه کوی اوبلی خواته يې دکافرانولپاره داحکم جاری کی چی کافران دی په خپلوځانګړتياوو اوبيلوالی کې ښکاره اوسيږی اوودمسلمانانوپه څيردې دوئ لنګ اولنګوټه نه استعمالوی ددې لپاره چی دمسلمانانواوکافرانوګډون رانه سی اودشک اوشبهاتودروازه وتړل سی

دفارس ومسلمانانوته دعمرفاروق رضی الله تعالی فرمان !

روی البخاری فی صحيحه عن عمر رضی الله عنه انه كتب الی المسلمين المقيمين ببلاد فارس اياكم وزی اهل الشرک (اقتضاء الطراط المستقيم صفحه ۶۰)

سیف لودین کتابتون

ژباړه : امام بخاری روایت کوی چی عمر فاروق رضی الله عنه د فارس و مسلمانانو ته فرمان ولیږی ورته وې فرمایل اې مسلمانانو خپل ځانونه د مشرکانو او کافرانو له شکل او هیئت او جامه څخه وساتی (اقتضاء صراط المستقیم)

امابعد فاتزروا وارتدوا وانتعلو وعلیکم بلباس ابیکم اسماعیل وایاکم والتنعم وزی العجم تمعددوا واخشوشنوا واخلقوا القوا الحدیث (فتح الباری جلد ۱۰/ص/۲۴۰)

وروسته له دې اې مسلمانانو لنګ او پټو کاروی شړی اغوندی او د خپل نیکه اسماعیل علیه السلام جامه لنګ او پټو پر ځان لازم کی او خپل ځانونه د عیش پرستی او عجمو له جامو او د دوئ له ناسته ولاړه او شکل او هیئت څخه لیری وساتی هسی نه چی تاسو په جامه او خوی ناسته ولاړه کې د عجمو مشابه سی او د اسماعیل علیه السلام د لمسی معد بن عدنان شکل او هیئت غوره کې او پنډی ، زیږی او زړی جامی اغوندې هغه چی د عاجزو خلکو جامی دی

او په مسند احمد کې راغلی دی چی ابو عثمان نهدی وایې چی موږ په آذربیجان کې وو زموږ د لښکر مشر عتبه بن فرقد وو د عمر فاروق رضی الله عنه دا فرمان راورسیدی (یاعتبة بن فرقد ایاکم والتنعم ایاکم وزی اهل الشرک ولبوس الحریر (اقتضاء الصراط المستقیم صفحه ۶۰)

ژباړه : اې عتبه د فرقد زویه په تاسو ټولو دا لازم دی چی له عیش پرستی او د کافرانو او مشرکینو له جامو او هیئت او ناسته ولاړه څخه ځانونه وساتی او وریښمینی جامی هیڅ وخت مه کاروی ..

د عیسایي کافرانو په هکله د عمر فاروق رضی الله تعالی عنه فرمان جاری کیدل !

د عمر فاروق رضی الله عنه دغه فرمان چی د شام له نصارا وو څخه د لوظ او ژمنی له شرطو وروسته په ټول اسلامی خلافت کې جاری سو او په کومو شرطو باندی چی د شام نصارا وو ته د ځان او مال او کورنی او اولاد و امن ورکړل سو هغه داسی وو :

ان نوقر المسلمین ونقوم لهم من مجالسنا ان ارادو الجلوس ولاتتشبه بهم فی شئ من ملابسهم فی قلنسوة ولاعمامة ولانعلین ولافرق شعر ولانتکلم بکلامهم ولانکتنی بکنایاتهم ولانرکب السروج ولانتقلد والسیوف ولانتخذ شیئامن السلاح ونحمله ولاننقش خواتیمنا بالعربیة ولانبیع الخمور وان نجز مقادم رؤسنا وان نلزم زینا حیث کنا وان نشد الزنانیر علی اوساطنا وان لانظهر الصلیب علی کنائسنا وان لانظهر صلیبنا ولاکتبنا فی شئ من طرق المسلمین ولااسواقهم ولانضرب بنواقیسنا فی کنائسنا الاضرباخفیفا ولانرفع اصواتنا مع موتاناولانظهر النیران معهم فی شئ من طرق المسلمین (رواه حرب باسناد جید اقتضاء الصراط المستقیم صفحه ۵۸) د شام نصارا وو د خپل ځان او مال او کورنی او اولادو او خپل دین پلویانو لپاره د امیر المؤمنین عمر فاروق رضی الله عنه څخه امان و غوښتی او په بدل کې موږ لاندی شرطونه او ژمنی په خپل ځان باندی لازم ګرزوو :

سیف لودین کتابتون

(۱) موږ به د مسلمانانو عزت او درناوی کوو
(۲) که مسلمانان زموږ په مجلس کې کښیناستل غواړي نو موږ به دوئ ته مجلس پریږدو
(۳) موږ به په هیڅ کار کې د مسلمانانو مشابهت نه کوو نه په جامه کې نه په خولۍ کې نه په لنګوټه کې نه په څپلیو کې او نه د سر په اړولو کې
(۴) موږ به د مسلمانانو په څیر خبری نه کوو
(۵) موږ به د مسلمانانو په شان نومونه او لقب او کینت تخلص پر ځانونه ایږدو
(۶) موږ به په اسانو باندی اه ځین سره نه سپریږو
(۷) موږ به توری غاړی ته نه اچوو
(۸) موږ به هیڅ قسم سلاح نه جوړوو او نه به یې باروو
(۹) موږ به په خپلو مهرونو ټاپو باندی عربی نقش نه جوړوو
(۱۰) موږ به د شرابو کاروبار نه کوو
(۱۱) موږ به د سر مخکې ویښتان پریکوو
(۱۲) موږ چی هر ځای او سیږو نو په خپله ناسته ولاړه او هیئت او شکل باندی به پاته کیږو
(۱۳) موږ به په خپلو غاړو کې زنار ځړوو ځړوند کوو
(۱۴) موږ به په خپلو کلیساګانو باندی لوړ صلیب نه دروو
(۱۵) موږ به د مسلمانانو په عامو ځایو او بازارو کې صلیب او خپل مذهبی کتاب نه خپرو
(۱۶) موږ به له خپلو مړیو سره آوازونه پورته کوو
(۱۷) موږ به له خپلو مړیو سره اور نه وړو دا شرط د مجوسو لپاره وو ځکه دوئ د اور عبادت کوی د دې روایت سند ډیر کره او قوی دی
عبدالرحمن بن غنم اشعری ﷺ وایې چی عمر فاروق ﷺ د شام وعسایانو ته په کومو شرا ائطو امن ورکړ ماهغه ولیکل په هغو کې د تیرو شرائطو څخه پرته دغه شرطونه هم وو
(۱۹) موږ به په خپلو آبادیو کې نوی کلیسا او د عبادت ځای نه جوړوو
(۲۰) کومه کلیسا چی ورانه سی هغه به بیرته نه جوړوو
(۲۱) کومه ځمکه چی د مسلمانانو لپاره وی هغه به موږ نه آبادوو
(۲۲) هیڅ مسلمان به د کلیسا له داخلیدو نه منع کوو که شپه وی او که ورځ
(۲۳) د خپلو کلیساوو دروازی به د مسافرو پر مخ خلاصی پریږدو
(۲۴) موږ به تر درې ورځو پوری د مسلمان میلمه میلمستیا کوو
(۲۵) موږ به په خپلو کورو او سیمو کې د مسلمانانو جاسوس ته ځای نه ورکوو
(۲۶) موږ به و خپلو اولادو ته د قرآن تعلیم نه ورکوو
(۲۷) موږ به د مشرکینو رواج په پټه یا ښکاره نه کوو
(۲۸) موږ به و چا ته د شرک او عیسویت بلنه نه ورکوو

سیف لودین کتابتون

(۲۹) موږ به خپل خپلوان په اسلام کې له داخلیدو څخه نه منع کوو

عبدالرحمن بن غنم اشعری ؓ وایې چې کله ما دغه شرطونه ولیکل نو د عمر فاروق ؓ مخ ته مې کیښودل عمر فاروق ؓ وفرمایل چې په دې شرطونو زیادت هم وکړه هغه داسې :

(۳۰) موږ به هیڅ یو مسلمان نه وهو یعنې تکلیف به نه ورته رسوو

(۳۱) موږ ته پر دې شرطو باندې د ځان او خپل دین د پلویانو لپاره امن را کړل سوی دی او که موږ له دې تیرو شرطو څخه سرغړونه وکړه نو زموږ عهد او امان به پای ته رسیږي او کوم معامله چې د مسلمانانو له دښمنانو او مخالفینو سره ده هغه به زموږ لپاره وي ..

سوال : که یو سړی له سره تر پښو پورې په انگریزي یا هندو جامه کې پټ سی نو آیا دغه په عقیده د توحید او رسالت کې څه زیان راځي یا خو په دې جامه سره کافر کیږي که نه ؟

ځواب : که ته د لږ وخت لپاره خپل د نارینه وو جامه وکاږې او د کور خونې ته ننوزې او د خپلې ښځې پر توگ و اغوندې او سور وریښمین ښائسته قمیص او د بنارسي پړونۍ او په لاسو کې بنگړې او په پښو کې پایزیبونه او په غاړه کې امیل و اچوې او د باندې را ووزې او په کوټه یا دفتر کې پر کرسۍ باندې کښینې نو آیا ته به ښځه جوړه سې او آیا ستا په پټ سړي توب کې به کوم توپیر راسي او په دفتر کې به په کرسۍ باندې کښینستل خوښ کې هلیه ده چې ته د خپلو اصولو او قاعدې په بنیاد باندې دا خوښ کړې ځکه ستا په نظر په ظاهري مشابهت کې هیڅ ستونزه نسته په ځانگړې جامه کې څه گټه شته او کله چې په انگریزي جامه سره مسلمان نه کافر کیږي نو آیا یو سړی د ښځې په جامه اغوستلو سره ښځه کیږي یوازې د ښځې په جامه سره د هغه سړي په نارینه توب کې څه توپیر راځي

او دغه رنگه که یو سړی دیوه نر ښځې جامه واغوندي نو آیا ربښتیا هم هغه نر ښځې کیږي بیشکه د ښځو په جامه سره خو نارینه نه ښځه کیږي مگر که خدانخواسته څو ورځې پر لپسې د ښځو جامه او د نر ښځیانو په جامه کې تیرې کې نو ته به خپله دا سړی ووینې چې څو ورځې وروسته به دده خوی او کار د ښځو او نر ښځیانو په شیروي او دده د خبرو لهجه او د خبرو طرا و آداء او ناسته ولاړه به د ښځو او نر ښځیانو په شیر کیږي ځکه د ظاهر اثر په باطن باندې خامخا لویږي په ښو کارو سره زړه روښانه کیږي او په بدو کارو سره زړه توریږي

نو دغه رنگه انگریزي او هندو جامه ده اوس دستي که څه هم په عقائدو کې تاوان نه راځي مگر دا نه دي معلوم چې وروسته به دده په باطني عقیده کې څه راځي ښه یاد و لره چې تر څو چې ستا په زړه کې عقیده پاته وي تر هغه وخته د انگریزي او هندو جامې په کارولو سره یوازې د عیسایانو او مشرکانیو مشابه سوی اد (من تشبه بقوم فهو منهم)

سیف لودین کتابتون

نه کوی چې یوه ورځ ستاد ښکاره انګریزی جامی اثرزړه ته ورسیږي او په اسلامي عقائدو کې دې هم زیان راسی نوپوه سه چې ته په دغه وخت کې دمشرکینو او عیسایانو مشابه نه سوی بلکې په خپله عیسایي او مشرک سوی کوم حکم چې ددوئ دی هغه به ستاهم وی که څه هم ته خوپه ژبه داسلام دعوه کوی مګرتاته مسلمان ویل ډیر ګران دی وداسی اسلام ته قومی اسلام وایې شرعی اسلام نه ورته وایې شرعی ا سلام هغه دی چې دشریعت له قانون سره برابروی

په پاکستانی قانون کې هغه څوک پاکستانی دی چې دپاکستان قوانین منی اودحکومت ددښمنانو جامی نه اغوندی اوکوم سړی چې دپاکستان په قوانیو او احکامو باندی ګوت نیونه کوی اودهندوردې واغوندی اوپه بازاروکې ګرزی که څه هم داسړی په قومی حیثیت سره پاکستانی دی خودحکومت په قانون سره هغه دحکومت له دښمنانو څخه دی زموږ په دې بیان سره دیوه بل سوال ځواب هم سوهغه داچې څوک داووایې چې دښځوپه جامه اغوندلوکې بدی داده چې ښځه بیل جنس دی اونارینه بیل جنس دی ځواب یې داسوچې دشریعت له نګاه څخه مومن اوکافربیل بیل جنسونه دی یوه جنس ته دبل دمشابهت اجازه نسته لکه دحکومت په نظرکې وفادار او باغی دواړه بیل بیل جنسونه دی اوددواړو احکام هم بیل بیل دی که څه هم دواړه دیوه پلار زامن وی اودیوی کورنۍ غړی وی دغه رنګه داسلام په نظرکې مومن اوکافردواړه بیل بیل جنسونه دی اودهریوه بیل حکمونه دی ﴿هُوَ الَّذِی خَلَقَکُمْ فَمِنکُمْ کَافِرٌ وَمِنکُم مُّؤْمِنٌ وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِیرٌ﴾ (۲آیت سورة التغابن)

لکه څنګه چې په ټولوپرمخ تللیو هیوادو کې داقانون دی چې دحکومت دښمن او باغی ته دمشرتوب اووزارت منصب اودنده نه ورکول کیږي دغه رنګه اسلام وایې چې داسلام ودښمن کافریهودی اوعیسایې اومشرک ته داسلامی حکومت امارت اومشرتوب نه سی ورکول کیدای ..

داسلامی جامی اولباس پیژندنه !

قال الله تبارک وتعالی ﴿وَلِبَاسُ التَّقْوَیَ ذٰلِکَ خَیْرٌ ذٰلِکَ مِنْ آیَاتِ اللهِ لَعَلَّهُمْ یَذَّکَّرُونَ﴾ ۲۶آیت سورة الاعراف)

یو کار او عمل ته داسلامی ویلو دوه ډولونه دی یو داچې رسول اللهﷺ په خپله هغه کار کړی وی اودویم ډول دادی چې ددې کاردکولو اجازه یې کړی وی اودهغه کارڅخه یې منع نه وی کړی اودکوم کارچې نبی کریمﷺ منع کړی وی هغه کارته غیراسلامی وایې اوکوم کارچې یې په خپله کړی وی یایې دهغه اجازه ورکړی وی هغه کارته اسلامی وایې مثلاً دجوارو ډوډۍ خوړل دنبی کریمﷺ سنت فعلی دی اوپه دې باندی عمل کول ډیر ښه کاردی اودخمیری ډوډۍ اوبریانۍ اومرغ متجن استعمال روادی ځکه د ښواومزه دارو شیانو شریعت اجازه ورکړی ده اودسپی اوخنزیر اوشرابو کارول غیر اسلامی دی ځکه په

سيف لودين كتابتون

شريعت کې له دې شيانو څخه منع سوى ده دغه رنګه جامه را واخله کومه جامه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپله استعمال کړي ده مثلاً ګرتې، اولنګ اوپټو څادر اوجُبّه اولنګوټه دا جامه اسلامي جامه ده اوکومه جامه چې نبي کريم ﷺ په خپله استعمال کړي نه ده مثلاً پرتوګ اوسليم شاهي څپلۍ اوواسکټ ياصدرۍ مګر په شريعت کې ددوئ اجازه ثابته ده منع يې نه ده څنى کړي اوهغه چې منع يې راغلي ده لکه له وريښمينو جامو اوزعفراني رنګ اوترپنډ يولاندي لنګ اوترپنډيوکښته پرتوګ څخه يې منع کړي ده نو ودې جامو ته غير اسلامي جامه ويل کيږي

دغه رنګه په قرآن اوحديث سره دالله ﷻ ددښمنانو سره دمشابهت څخه منع ثابته ده په دې وجه دکافرانو په شان جامه اغوندل چې په هغه جامه کې وليدونکي ته دا نه معلوميږي چې دا سړي يهودي دى اوکه عيسايي دى اوکه مجوسي دى اوکه هندودى بيشکه دا جامه غير اسلامي جامه ده دسيکانو او انګريزانو خولۍ اوپتلون اوددوئ فيشن کولو همدا حکم دى په دې ځاى سره دفيشن کونکو دا **سوال** هم ځواب سو چې پرعلماء باندي دا سوال کوي چې که کوټ اوپتلون غير اسلامي جامه دى نو علماؤ دې اوږدي کرتې اونوي څپلۍ هم نه اغوندي ځکه داهم د اسلام په پيل کې نه وو ځکه نبي کريم ﷺ اوصحابه کرام ؓ داسي جامه اوپه داسي تولنه کې ژوند کول په هيڅ تاريخ اوسيرت کې نه دي ثابت

ځواب :دادى چې دکوم شئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم قولاً يافعلا اجازه ورکړي وى هغه ټول اسلامي اوشرعي دى اودکوم شئ چې يې منع کړي ده هغه ټول غير اسلامي اوغيرشرعي دي رسول الله ﷺ که څه هم داسي کرتې اوڅپلۍ نه دي اغوستي اودا رنګه خوراکونه پلاوونه اوزردي اوکوفتي اوکړايې کبابونه نه دي خوړلي مګر دفراخي اوښو خوراکو اجازه يې ورکړي ده په دې شرط چې هغه دشريعت په حدودو کې داخل وى اوداسي فراخي اوښه خوراکونه اودعيش اوعشرت سامانونه دخلافت راشده په وخت کې هم موجود وو اوکوم دهوسايني شيان چې دشريعت په حدودو کې وو په هغوباندي صحابه کرام ؓ هيڅ ګوت نيونه نده کړي مګردا چې يو شمير خاصو کسانو دتقوى اوپرهيزګارى خاص رنګ وو نودوئ به کمزوري جامي اغوستلي اوددرهم اودينار له جمع کولو څخه يې هم منع کوله

خلاصه دخبرى :داسو چې داسي خوراک اوڅښاک اوناسته ولاړه اوکومه ټولنه چې دشريعت په حدودو کې دننه وى هغې ته اسلامي ټولنه وايې اوکومه جامه اوکوم خوارک اوناسته ولاړه چې دشريعت له حدودو وتلي وى هغه غير اسلامي دى

(تِلْكَ حُدُودُ اللهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللهِ فَأُولَـٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾ (۲۲۹ آيت سورة البقرة)

اوس دا حقير بنده دسيرة المصطفى دريمه برخه په دې دعا باندي پاى ته رسوى

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ

سیف لودین کتابتون

درسول الله صلی الله علیه وسلم معجزات یادنبوت اورسالت دلائل !

الله تعالی دبندګانو دلارښوونی لپاره له انسانانو څخه انبیاء اورسولان علیهم السلام رالیږلی دی ددې لپاره چې ددې غوره هستیو په واسطه بندګانو ته خپل حکمونه ورسوی او د(أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَىٰ شَهِدْنَا(۱۷۲آیت سورة الاعراف) هغه ویل سوی ژمنه وریاده کړی او خپل دلیل پردوئ پوره کې ﴿رُسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا﴾ (۱۶۵آیت سورة النساء) ددې لپاره چې دخلکو لپاره هیڅ دلیل پاته نسی د رسولانو له رالیږلو وروسته .. اودانبیاء علیهم السلام له تبلیغ وروسته ومخلوق ته دالله ﷻ په پیروی کې هیڅ عذرپاته نه سی

رسول اونبی ؑ به دنوروانسانانو په څیریو انسان وی له نوروانسانانو سره یې په صورت کې هیڅ توپیرنه وی له همدې کبله الله تعالی ودوئ ته معجزی ورکړی ددې لپاره چې ددوئ درښتینوالی دلیل سی لکه چې الله تعالی دموسی ؑ په قصه فرمایې

﴿اسْلُكْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ وَاضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ فَذَانِكَ بُرْهَانَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ﴾ (۳۲آیت سورة القصص)

دالکړه اوسپین لاس ستامعجزی دی دالله ﷻ له لوری ستادرسالت دوه روښانه دلیلونه دی دهري دعوی لپاره یو دلیل ضروری وی اوڅنګه چې دعوی وی دهغه مناسب دلیل هم په کاردی نوڅوک چې دنبوت دعوی کوی نودده دعوه داوی چې زه دالله ﷻ رالیږل سوی استازی یم اودهغه سفیریم اودده احکام اولارښوونی می راوړی دی نوځکه دهغه درښتینوالی ثابتولو لپاره په غیبی ډول باندی دداسی کاروښکاره کیدل لازمی دی چې دهغه دمثل له راوړلو څخه مخلوق بیخی عاجزه وی ددې لپاره چې مخلوق هغه دعادت خلاف کارونه کوم چې دنبی په لاس ښکاره کیږی اولیدونکي په دی پوه سی چې دامعجزه چې ښکاره سوه دایواځي دالله ﷻ کاردی معاذالله درسول ﷺ کارنه دی اونه درسول دارادی او اختیارپه دې کې دخل سته اونه په کوم کسب اوزدکړه اوچل سره سوی دی بلکې یواځی دالله ﷻ په کامل قدرت سره ښکاره سوی دی ځکه داسی نښه ښودل دانسان له واک پوهی اوکسب څخه وتلی دی له دې معلومه سوه چې داسړی رښتیاهم دالله ﷻ له لوری رالیږل سوی دی اودده په پیروی سره هرڅوک الله ﷻ ته رسیږی اوددنیا اوآخرت کامیابی دده په لمن نیولو کې ده دمعجزی په لیدو سره په دې شرط چې زړه دعناداوکین اوکوږوالی څخه پاک وی دنبی ؑ درښتینی کیدوبی اختیاره زړه یقین کوی اونفس دهغه په رښتینوالی باندی مجبوره کیږی دنبوت اورسالت دعوی یولوی کاردی په دې وجه ددې دثابتولو لپاره هم لوی دلیل په کاردی نومعجزه چې دالله ﷻ دقدرت اوقهریوه نمونه وی کله چې دنبی ؑ په لاس باندی ښکاره کیږی نودهغه دغلبی اوویری په مخکې دهیچاپښه نه ټینګیږی اودخپل واک واکی یې له لاسه وزی په عقلی دلائلو کې ددښمن دجګړی اوبحث لاره بیخی بندیږی مګر دمعجزو له لیدو وروسته هیڅوک یرته له کین

سیف لودین کتابتون

کونکواوازلی بدبختودانکارهیڅ دلیل نه پاته کیږی ځکه معجزه ظاهراوباطن دواړه عاجزه کوی

ترټولومخکې پیغمبرآدم علیه السلام دی اوترټولوآخری پیغمبر حضرت مجتبی مصطفی خاتم الانبیاء محمدبن عبدالله صلی الله علیه وسلم دی چی پرده باندی نبوت اوپیغمبری پای ته رسیدلی ده دده په پیغمبری سره دین پوره سو اوښه خویونه پوره سو کله چی داهدف لاس ته راغلی اودین اواخلاق دواړه پوره سو نوله نبی کریم ﷺ څخه وروسته دپیغمبردرالیږلوهیڅ اړتیاپاته نه سوه دنبی کریم ﷺ خلفاء رضی اوددین علماء کوم چی رښتینی علماء دی اوددین اسلام مرسته اوساتنه یې کړی ده ترقیامته داسلام دساتنی او خپراوی لپاره کافی دی دالله تعالی ارشاددی (الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ (۳آیت سورة المائدة)

نن ورځ ماستاسولپاره ستاسودین پوره کی

نوترخاتم الانبیاء علیه السلام وروسته که څوک دنبوت دعوی وکوی دهغه دعوه به وچ کلک دورغ اوبی معنی وی حق خودادی چی دنبی کریم ﷺ لپاره دهیڅ معجزی اونښی اړتیانسته ځکه دنبی کریم ﷺ صورت اواخلاق دهغه ناسته ولاړه خبری دهغه کار اودهغه ټول ژوند معجزه اودده دربنتینولی نښه وه خلکوچی به نبی کریم ﷺ ولیدی نودابه یې ویل چی داروښانه مخ ددروغجن مخ نه دی

امام غزالی قدس الله سره وایې چی درسول الله ﷺ غوره اخلاق اوغوره کارونه اوحالات اوعادات اوخویونه اودرسول الله ﷺ نظم اودخلکوتدبیراوملکی سیاست ته که وکتل سی چی نبی کریم ﷺ څنګه بیلابیل طبیعتونه اوسره ضدمزاجونه دیوه قانون الهی ځان قربانونکې وګرزول اوبل داچی رسول الله صلی الله علیه وسلم چی مخلوق ته کوم قوانین دشریعت ورکړه دهغه حقائق اورازوونه اوحکمتونه اواشاری په تحقیق اوڅیړنه کې دامت علماء محقیقین اوفقهاء مجتهدین ټول وخت حیران اوعاجزه پاته دی ددې کارو له څیړلووروسته دروغ عقل لرونکی ته یوه ذره شک هم نه پاته کیږی چی ددې ټولو کاروپا یله پرته له غیبی مرستی یواځی دانسان په ځواک اوقوت اوتدبیراوچل سره نه سی کیدا ی ځکه دامحال اوناممکن کاردی اوداسی پوره دین راوړل دیودروغجن په تصورکې هم نه سی راتلای ټولوته داخبره ښکاره ده چی نبی کریم ﷺ اُمی وو لیک لوست یې نه وو کړی نه یې له چازده کړه کړی وه اونه یې دچاد کتابو مطالعه کړی وه اونه یې دعلم په طلب پسی سفرکړی وو په ناخبرواوجاهلوعربوکې اوسیدی یتیم اوبی مرستندویه وو په داسی حالاتوکې پرته له لیک لوسته دعلم اوحکمت داسی چینه دده مبارک ﷺ له مبارکی ژبی څخه جاری کیدل اوداسی علوم اومعارفوپیژندل دده مبارک ﷺ له ژبی ښکاره سو چی نه مخکې اونه وروسته چالیدلی نه اوریدلی وو اونه دهغه مثال شته داپرته له وحی الهی هیڅ امکان نه لری اودانسان عقل اوځواک اوپوهه اوزیراکت ددې کارو له کولو څخه عاجزاودیر لیری پاته دی

سیف لودین کتابتون

اوبل داچې دنبی کریمﷺ غوره اخلاق اوخویونه ددې خبری ښکاره دلیل دی چی دغه پاک ذاتﷺ دالله تعالی غوره اوخوښه هستی ده
پرچاچې دالله ﷻ غضب وسی هغه بداخلاق اوبدکاره جوړوی
اوبل داچې دنبی کریمﷺ دخادمانو په عربو اوعجمو باندی داسی کامیابی چې هیڅ څواک اوقوت اوشتمنی ورسره نه وه داددې خبری ښکاره دلیل دی چی دالله ﷻ مرسته اومهربانی ورسره وه امام غزالی رحمة الله علیه وایې چې داښکاره کارونه خودنبی کریمﷺ دربښتینوالی داثبات لپاره بس دی اوپوره دلیل دی مګرله دې ښکاره دلائلو سره سره دهغه دربښتینوالی څه پټې نښې یعنی معجزې هم موږ درته بیانه وو ددې لپاره چې لږعقل لرونکی هم دنبی کریمﷺ په رښتینوالی اوصداقت کې یوه ذره شک اوشبه پاته نه سی وروسته امام غزالی په لنډ ډول درسول اللهﷺ څو معجزې پرته له تفصیل یادی کړی دی (۱)

دنبی کریمﷺ ټولی معجزې څودی ؟

امام بیهقی رحمة الله علیه وایې چی درسول الله صلی الله علیه وسلم معجزات زر ۱۰۰۰ ته رسیږی امام نووی رحمة الله علیه وایې چی یوزر اودوه سوه ۱۲۰۰ ته رسیږی اویوشمیرنورعلماء بیاوایې چې دنبی کریمﷺ دمعجزاتوشمیردرې زره ۳۰۰۰ ته رسیږی اوحدیثوامامانو په معجزاتو باندی ځانګړی کتابونه لیکلی دی لکه دلائل النبوة دامام بیهقی اوامام ابونعیم (۲) اوشیخ جلال الدین سیوطی رحمة الله علیه دخصائص کبری په نامه یوځانګړی کتاب دنبی کریمﷺ دمعجزاتو په اړه لیکلی دی چی په هغه کتاب کې زرمعجزې بیان سوی دی
اوحقه خبره داده چی درسول الله صلی الله علیه وسلم معجزې ترشمیرلوزیاتی دی ځکه دنبی کریمﷺ هرخبره اوهرکار اوهرحال یوه نالیدلی اوعجیب اوپرښیګنواو رازو اوحکمتو باندی مشتمل کیدوپه وجه سره معجزه معلومیده
دنصاراوو علماء دمخکنیوانبیاء علیهم السلام معجزې ۶۷ یادی کړی دی اودعیسی علیه السلام معجزې دحمل له وخت بیااسمان ترختلوپوری ۲۷ شمیرلی دی اوبیادهغه دحوارینو خاصودوستانوشل معجزې شمیرلی دی مګرله دوئ سره ددې معجزونه کوم دسند سلسله شته اونه دهغه دراویانواونه دنقل کونکوعدالت اوثقه والی کوم دلیل شته داسی نه دی لکه دنبی کریمﷺ معجزې علی صاحبها الف الف صلوة والف الف تحیة دنبی کریمﷺ معجزې زرګونوته رسیږی اوپه متصل سندوسره روایت سوی دی اوپه سلګونوخوداسی دی چی مشهور اومتواتردی اوپه لوړوالی کې دشان اونادرعجب کیدو له کبله دټولوانبیاء علیهم السلام ترمعجزاتوډیر دی

(۱) احیاء علوم الدین للغزالی جلد ۲ /ص /۳۳۲. واتحاف شرح احیاء العلوم للعلامه الزبیدی جلد ۷ /ص /۱۶۴..۱۹۸)
(۲) قال الحافظ العسقلانی ذکرالنووی فی مقدمة شرح مسلم ان معجزات النبی صلی الله علیه وسلم تزید علی الف ومأتین وقال البیهقی فی المدخل بلغت الفا وقال الزاهدی من الحنفیة ظهرعلی یدیه الف معجزة وقیل ثلاثة آلاف وقداعتنی بجمعها جماعة من الأئمة کابی نعیم والبیهقی وغیرهما (فتح الباری صفحه ۴۲۵ باب علامات النبوة)

سیف لودین کتابتون

معجزه څو قسمه دی ؟

درسول الله صلی الله علیه وسلم نبوت اورسالت لکه څنګه چې دټولې نړۍ لپاره دی اوترقیامته پورې بل نبی نه راځي په دې وجه الله تعالی نبی کریم ﷺ ته ددنیادټولو قسمو معجزې اونښې ورکړې دی ددې لپاره چې ددنیاهرشئ دده مبارک ﷺ دنبوت دلیل سی اوددنیاهیڅ یوه نوع داسې پاته نه سی چې هغه دنبی کریم ﷺ دنبوت شاهدي ورنه کړی ځکه معجزه دنبوت دلیل وی نوکله چې ددنیادټولواقسامو څخه دده معجزات وی نوددنیاټول انواع اواقسام به دنبی کریم ﷺ دنبوت اورسالت لیدونکي وی اوددې لپاره چې په ټولوانبیاء علیهم السلام باندې دنبی کریم ﷺ پورته والی دلمرپه شان ښکاره سی چې دنبی کریم ﷺ یوازې معجزات دټولوانبیاء علیهم السلام ترټولومعجزو ډیر دی اودهیچادده په نبوت کې شک اوشبه پاته نه سی الله تعالی نبی کریم ﷺ ته چې کومې معجزې ورکړې دی هغه پردوه قسمه دی یوعقلی اوبل حسی دی عقلی هغه دی چې دهغوپه پوهولوکې عقل په کارراځي اودارنګه معجزې هغه خلک پیژنی چې هوښیاروی اوحسی معجزې هغه نالیدلې اوعجیب کارونه دی چې دهغو علم اوپوهه په حواسوسره لکه سترګې لاسونه یانوراندامونه په دې سره کیږی دداسې معجزوغوښتونکې ډیر هغه خلک وی چې له دوئ سره دعقلی اصولو معلومولو هیڅ سلیقه نه وی یاخوضدی اوکین کونکي وی

عقلی معجزات **(دنبی کریم ﷺ لومړی عقلی معجزه)**

درسول الله ﷺ صورت اواخلاق اودهغه بې مثال غوره اخلاق اوښه کارونه اودده عملی اوعلمی کمالات دهوښیارانولپاره دنبی کریم ﷺ دنبوت اورسالت عقلی دلیل دی هرچاچې به دنبی کریم ﷺ مخ مبارک ولیدی اودده مبارک اخلاق بې ولیدل نوبې اختیاره به یې وویل چې په کوم ذات کې چې داسې ښه خویونه اوغوره کارونه اوداسې علمی اوعملی پوره والی وی چې هغه نه چالیدلی اونه اوریدلی وو هغه رښتیاهم دالله ﷻ غوره بنده دی ځکه الله تعالی له ټولې دنیاڅخه په بیلواخلاقواوخوی باندې پیداکړی دی دداسې کمالاتوحاصلول په کسب اوکوښښ اوریاضت سره نه سی لاس ته راوړل کیدای

دویمه عقلی معجزه !

الله تعالی نبی کریم ﷺ ته یوپوره معجز کتاب یعنی قرآن کریم ورکړی دی چې دادده دنبوت همیشنی اوتل پاتې معجزه ده هغه دحکمت علمیه اوحکمت عملیه اوښو اخلاقواودکورنۍ ژوند اوملکی سیاست اودښکاره اوپټ پاکوالی دعلوموا وپیژندنو یوه بې مثاله خزانه دی اوښکاره خبره ده چې داسې معجزاولامثال کتاب دیوامی سړی له ژبې څخه ویل چې هغه نه له کوم استاذ څخه علم زدکړی وی اونه یې کوم مکتب اوپاکولته ویلې وی اونه یې دیوعالم اوحکیم ملګرتیاکړی وی پرته دالله ﷻ له وحی اوښوونی اوالهام اولقاء څخه بل څه کیدای سی

سيف لودين كتابتون

قرآن کريم درسول الله صلی الله عليه وسلم ترټولولويه معجزه دی چی دهغه دزوال اوختميدولاره نسته اوپه داسی تواترسره رانقل سوی دی چی داسی تواتردډنياوهيڅ کتاب ته نه دی په برخه اوډداسی علوماومعلوماتوخزانه دی چی لويولويوحکماء اودعقل دعوه کونکوددې ځواب نه دی راوړی که هغه په اعتباردفصاحت اوبلاغت وی اوکه په اعتبار دعلوماومعلوماتووی اوکه په اعتباردساتنی وی له تغيراوتبديل څخه په خوندی کيدو اوساتنه کې دقرآن کريم مقابله هيڅوک نه سی کولای اونه بی وکوی اوس به موږترډې زيات نورڅه ووايوچی په خپله قرآن څورلس سوه کاله کيږی دا اعلان کوی چی که په چاکې همت وی هغه دې زماځواب ولیکی مګرترننه پوری هيڅوک پردی نه دی توانيدلی چی دقرآن ديوه وړوکی سورة مثال وړاندی کی دنبی کريم ﷺ له نبوت واخله ترننه پوری په هره پيړۍ کې دعربی ژبې لوی لوی فصيح اوبليغ خلک تيرسوی دی چی ددين اسلام مخالف وو اوهيچاهم دقرآن دغوښتنی ځواب نه دی ورکړی

په قرآن کريم کې دعوت اودليل دواړه موجوددی !

حافظ فضل الله توربشتی رحمة الله عليه دعقائدو په خپله رساله (المتعمد فی المعتقد) کې ليکی چی انبياء عليهم السلام چی کله دالله ﷻ له لوری دحق په بلنه امرکيږی نودوئ ته ددعوی دثبوت لپاره ددليل په ډول معجزه ورکول کيږی ګواکی دعوت اودليل دواړه بيل شيان دی مګر زموږپيغمبرحضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ته يواځی قرآن کريم داسی معجزه ورکړل سوی ده چی په ده کې دعوت اودليل دواړه سره يوځای سوی دی قرآن کريم دمعنی په لحاظ سره دعوت دی اودبلاغت اوفصاحت اواعجاز په لحاظ سره دليل دی نوقرآن کريم خپله دليل هم دی اوپه ده کې دعوت هم پروت دی نوآياد قرآن کريم دشرافت اوعزت اوغوره والی لپاره دابس نه دی چی په يوه شی کې دعوت اودليل دواړه يوځای وی اودواړه به ترقيامته پوری يوله بله نه بيليږی (۱)

دنبی کريم ﷺ دريمه عقلی معجزه !

حافظ توربشتی رحمة الله عليه په خپله رساله دعقائدوکې وايې چی دنبی کريم ﷺ دژوندټول حالات دده دنبوت دلائل دی چی دهغوله څيړلو وروسته سمدستی دده دنبوت په رښتينوالی باندی يقين حاصليږی ښکاره خبره ده چی په پيل کې يويتيم وو نه له هغه سره کوم ځواک وو چی دهغه له لاری يې په خلکوباندی خپله خبره منلی وای اونه مال اوشتمنی اولوړه مرتبه وه چی دهغه په طمع يې دده مبارک ﷺ خبره منلی وای اوقريش يې خطاايستلی وای اونه له ده سره کومه پاچهی اومشرتوب په ميراث ورته پاته وو چی خلکودزرو اوپيسو په طمع اودمرتبی دلاس ته راوړلوپه هيله دده پيروی کړی وای بلکې هغه يواځې يوتن وو بی مرستندويه اوبی ملګری وو هيڅ ځواک له ده سره په دې

سیف لودین کتابتون

کارکې ملګری نه وو حتی په دې کارکې دده نژدې خپلوان هم دده مخالفین اودښمنان وو نبی کریم ﷺ چی کله دالله ﷻ دیووالی آواز وکی ټوله جزیرة العرب په شرک اودبتانو په عبادت بوخته وه غلاو لوټ مار اوزنا اومردارو خوړلواوداسی نورناوړه کارونه خودعر بودویم طبیعت جوړسوی وو کله چی درسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت اوارشادښکاره سو نوپه یوه ګړی ددوئ حال بدل سو اوټول عرب یوزړه اویوه ژبه اویوبدن جوړسو اوپرحق دین باندی ټول سره راټول سو ددوئ حرص طمع نفسانی خواهشات اوټول ناوړه کارونه په یوه ځل په ښوخویو اوښو کاروباندی بدل سو اودحق دین په پیروی کې داسی ټینګ ودریدو چی ددین لپاره یې تکلیفونه ستونزی اوله کوره اوکورنۍ څخه بیلوالی خوښ کی اوخپل ځانونه اومالونه یې دالله ﷻ په لاره کې قربان کړه چی په دې کې ددنیادګټی ګمان کولواحتمال هم نسته اودناپوه قوم یې ددې وړ وګرزاوو چی ددنیاترټولولویې پاچهی په یوه وخت کې ترپښولاندی کړی اودقیصراوکسری خزانی دمسجدنبوی په انګړکې واچول سوی

سړی چی کله ودې انقلاب او اونوښتنوته وګوری نوهغه به په یقین سره پوه سی چی داسی لویکارونه په عقلی اوفکری تدبیرسره نه سی کیدای دانسان قوت اوکوښښ ودې مرتبی ته نه سی رسیدای دایوازې اسمانی تائیددی چی دالله ﷻ له حکم اوتقدیرپرته هیڅ امکان نه لری اودبنده په کسب او اختیارلاس ته نه سی راوړل کیدای په قرآن کریم هم ودې ته اشاره سوی ده ﴿وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعاً مَّا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَكِنَّ اللهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ إِنَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ (۶۳ آیت سورة الانفال)

اې نبی علیه السلام که تاددې ناپوه قوم دمینی او محبت پیداکولوپاره دځمکی دمخ ټولی خزانی خرڅ کړی وای نوبیابه هم تاپه دوئ کې مینه نه وه پیداکړی مګر الله تعالی ددوئ په مینځ کې مینه او محبت پیداکړرښتیاهم الله تعالی غالب اوحاکم ذات دی ..

دنبی کریم ﷺ څلورمه عقلی معجزه!

درسول الله صلی الله علیه وسلم دتورات اوانجیل دعلماء په مخکې ښکاره داخبره کول چی الله تعالی زمادنبوت اوراښکاره کیدو خبرپه تورات اوانجیل کې ورکړی دی اومخکنیوانبیاء علیهم السلام هم همداخبروکړی دی چی په آخره زمانه کې به یونبی آخرزمان ﷺ راولیږلی کیږی چی دهغه نبوت اورسالت به دټولوانسانانواوپیریانانولپاره یوشان وی اواې اهل کتابو تاسوپه دې خبرپاست نوځکه تاسوایمان راوړی دنبی کریم ﷺ له دې دعوی وروسته ډیر اهل کتاب ایمان راوړی اوددې خبری شاهدی یې ورکړه چی ته رښتیاهم هغه حق نبی علیه السلام یې چی په تورات اوانجیل کې یې ستادراتلوزیری سوی دی اوډیرو اهل کتاب دکین په وجه ایمان نه راوړی اوسره له دی چی دنبی کریم ﷺ له راښکاره

سیف لودین کتابتون

کيدو مخکې به ددوئ علماء زيري ورکول ويل به يې چې اې دمکې خلکواوس دنبی آخرزمان ﷺ دښکاره کيدو وخت رانژدې سوی دی موږ به دهغه پيروي وکړو اوپرتاسو به بريالي سو دوئ ځکه ايمان نه راوړی دوئ ويريدل چې دنبی کريم ﷺ په پيروی سره به زموږ مشرتوب ختميږی مګر دهيڅاداتوان نه وو چې دقرآن کريم دآياتوتکذيب وکوی چې په هغه کې ويل سوی وو چې دنبی کريم ﷺ يادونه په تورات اوانجيل کې هم سته بلکې قرآن کريم دادعوی کړی ده چې دنبی کريم ﷺ دملګرو‌ رضي الله عنهم يادونه هم په تورات اوانجيل کې شته لکه چې الله تعالی فرمايي (ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ (۲۹ آيت سورة الفتح)

اهل کتابو دانه سوويلای معاذالله چې دقرآن کريم داخبره غلط ده اوپه تورات اوانجيل کې دنبی کريم ﷺ هيڅ زيری نه دی ورکول سوی اونه دده دملګرو رضي الله عنهم يادونه پکی سوی ده کله چې دقرآن کريم داآيتونه نازل سوه چې د نبی امی ﷺ يادونه په تورات اوانجيل کې شته نوپه همدغه وخت کې په عربو کې په زرهاوو ديهودو اونصاراوو علماء موجودوو که دقرآن کريم دادعوی غلطه وای نوديهودو اونصاری علماء به داغلطی په ټول نړۍ کې خپره کړی وه عرب خوپريږده ددې لپاره چې يهودی ياعيسايې اسلام نه راوړی اويهودی ياعيسايې هسی نه خپل دين پريږدی

دنبی کريم ﷺ پنځمه عقلی معجزه !

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دنياته راوليږل سو په هغه وخت کې ټوله نړۍ په بې لارې کې ډوبه وه اوخلک په رنګارنګ بې لاريواخته ووپه همدی وخت کې داشپږ مذهبونه رواج وو

تراسلام مخکې کوم دين خپورو‌و (لومړی مذهب)

لومړی مجوسيت : داورعبادت کول دايران اوفارس څخه بياترخراسان اوترکستان پوری خپورسوی وو دکسری حکومت ددې سرپرستی کوله مجوس ده دووخدايانومنونکی وو يو يزدان اوبل اهرمن داور عبادت به يې کوی اومرداری به يې خوړلی اودلوراوخورسره به يې نکاح کوله دعمه اوخاله خوديادېدلواړتيانسته

دويم دين عسويت وو !

عيسويت په شام اوعراق اونورو شاوخواسيمو کې خپورو‌و دروم پاچاقيصرعيسايې مذهب وو په دې وجه دا مذهب دروم دپاچهانوپه مشری کې پرمخ ولاړی دوئ ددرې خدايانو اودعيسی عليه السلام دزوی والی اودالله دالوهيت اودعيسی عليه السلام پرالوهيت اوکفاره باندی قائل وو

دريم مذهب يهوديت وو !

يهودو که څه هم تورات منی خودکين اوتکبرپه وجه يې دانبياء عليهم السلام اودعلماء په نصيحت باندی غوږنه نيوی بلکې وژل به يې داکارددوئ رواج ګرزيدلی وو لکه چې الله

سیف لودین کتابتون

تعالی فرمایي ﴿وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَيَقْتُلُونَ الَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ ۲۱ آیت سورة آل عمران)

یهودډیرئ په یمن او دخیبراو دمدینی په شاوخواسیموکې اوسیدل دمال اومرتبی سره مینه کول ددوئ تګلاره وه اودین خرڅول اوپه مسائلو باندی رشوت اخیستل اودانبیاء علیهم السلام په صحیفوکې بدلون ددوئ شعاروو

څلورم مذهب دشرک وو !

یعني دبتانو دعبادت کونکو مذهب دوئ به دبتانو دکاڼو اوډبرو اولرګو عبادت کوی دامذهب په جزیرة العرب اوهندوستان کې خپور سوی وو

پنځم مذهب صائبین یاروحانیت !

دوئ دروحانیاتو منونکی وو اودستورو لمراوسپوږمۍ عبادت به یې کوی دامذهب په حران عراق کې ډیر خپور سوی وو دنمرود لعین په وخت کې خلک دهمدغه دین ډیرپلویان وو چی ودوئ ته الله تعالی ابراهیم علیه السلام رالیږلی وو دالله جل وعلی شانه ارشاددی:

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئِينَ وَالنَّصَارَىٰ وَالْمَجُوسَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا إِنَّ اللَّهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾ ۱۷ آیت سورة الحج)

په دې آیت شریف کې هغه پنځو ادیانو یادونه سوی چی دنبی کریم ﷺ دراپاڅیدو په وخت کې په ټوله نړۍ کې خپاره وو

شپږم مذهب دهریت وو !

په تیرسوی آیت کې دپنځو مذهبو یادونه وسوه خوله دې پرته یوبل دین هم وو چی هغه ته یې دهریه ویل ددوئ یادونه الله تعالی په دې آیت کې کړی ده ﴿وَقَالُوا مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ﴾ (۲۴ آیت سورة الجاثیة)

اوځای ځای په قرآن کریم کې ددهریه ډلی درد یادونه سوی ده ددې ډلی په ردکې دې حقیربنده یوه ځانګړی رساله لیکلی ده چی دهغې نوم دی (اثبات صانع عالم وابطال دهریت ومادیت) دحق غوښتونکی دی هغې ته رجوع وکوی

ونړۍ ته داسلام دسپیڅلی دین راتګ !

رسول الله صلی الله علیه وسلم ونړۍ ته داحق دین راوړی په نړۍ کې په دغه وخت کې بیلابیل دینونه موجودوو دامیرانو پاچهانو او واکمنو په سرپرستی کې ددې ادیانو پالنه کیدله اودین اسلام له دې ټولو ادیانو اومذاهبو څخه خلاف وو هغه چاچی داسلام دین نړۍ ته راوړی هغه یویتیم اوبی کسه اوامی وو هغه له پیغمبر کیدو وروسته دین اسلام دنړۍ په مخکې وړاندی کې اودهرملت اودین اومذهب دلیلونه یې داسی ردکړه چی نړۍ حیرانه پاتی سوه دیهودو اونصاری وو ډیرو لویو لویو عالمانو پوهانو اوهوښیارانو او زیر کو خلکو له نبی کریم ﷺ سره مناظری اومباحثی وکړی مګر ټولو علماء په یوه ځای

سیف لودین کتابتون

کې هم دنبی کریم ﷺ په هیڅ دلیل کې هیڅ دګوت نیونی اوسوال ځای پیدانه کې سره له دی چی نبی کریم ﷺ امی وو لیک اولوست یې نه سوکولای قرآن کریم اوحدیث نبوی دباطلو ادیانو درد له دلائلو څخه ډک دی

داددې خبری ښکاره دلیل دی چی نبی کریم ﷺ ته ربښتیاهم دالله ﷻ له لوری الهام سوی دی اودده مبارک تائید سوی دی ځکه سره له دې چی دده مبارک ﷺ امی کیدل په یقینی دلائلو سره ثابت دی اوددنیادټولو ادیانو بطلان په دلائلو ثابتول پرته دالله ﷻ له ښوونی اومرستی ناممکن اومحال دی له دیارلس کاله پرلپسی دعوت اوبلنی وروسته چی کله نړۍ ته حق ښکاره سو اودهیڅ شک اوشبه ځای پاته نه سو نورسول الله ﷺ دالله ﷻ په حکم له مکی مکرمی څخه هجرت وکی اوبیاله هجرت یوکال وروسته یې دالله ﷻ په حکم سره دحق له نه منونکوسره جهادپیل کې اودالله ﷻ دوعدی برابرکامیابه اوبریالی سو په غزاګانواوسریوکې دغیب داسی آثار ښکاره سو چی دحق دښمنانوبه هغه ولیدل نوپوه سو چی په دې بی وسی کې داحیرانونکی بریالیتوب اوپرته له ځواک ددې فقیرانوپه مقابله کې ماته اوناکامی داپرته له اسمانی کومکه اومرستی ناممکن اومحال دی آخراچی مجبوره سو اوحق ته یې غاړه کیښوده اودالله ﷻ په دین کې ډلی ډلی داخل سو.

دنبی کریم ﷺ شپږمه عقلی معجزه !

نبی کریم ﷺ دراتلونکوپیښوپه اړه خبرورکوی اوهغه به له واقعت سره هم برابروو اودهغه خبربه یوه زره خلاف نه وو اودمخنکیوانبیاء علیهم السلام قصی یې داسی په تفصیل بیان کې لکه په هغه وخت کې چی نبی کریم ﷺ په خپله ورسره وو اوپه سترګویې لیدلی اوپه غوږیې اوریدلی وی اودمنافقینواودښمنانودزوړخیالات به یې بیانول چی دهغه بیان په احادیثواوتفاسیروکې په فراخه پیمانه موجوددی داټول ددې خبری ښکاره دلیل وو چی رسول الله ﷺ ته وحی راځی ځکه داسی وړاندوینه دعقل کارنه دی اوپه داسی خبروعلم دعقل له پوهی ډیر لوړدی پرته دالله ﷻ له وحی اوالقاء څخه نه سی کیدای..

دنبی کریم ﷺ اوومه عقلی معجزه !

نبی کریم ﷺ مستجاب الدعواة یعنی دده مبارک ﷺ دعاقبولیده داهم دحقانیت ښکاره دلیل دی نبی کریم ﷺ چی به کومه دعاکړی هغه دالله ﷻ په دربارکې قبوله سوی ده

حسی یاپه سترګولیدل سوی معجزی !

الله تعالی نبی کریم ﷺ ته ددې عقلی اوپټومعجزوپرته کومی چی مونږ درته بیان کی نوری هم بی شمیره معجزی ورکړی وی چی هغه په سترګومعلومیدی دهغوپوه په حواسوسره کیده لکه دمکی دکفاروپه غوښتنه چی نبی کریم ﷺ سپوږمۍ ته اشاره وکړه سپوږمی دوې ټوټې سوه اودنبی کریم ﷺ له ګوتو مبارکو څخه اوبه بهیدلې چې په هغه اوبو سره نږدې

سیف لودین کتابتون

دوه نیم زره صحابه کرام رضی الله عنهم اوبه سو اوټولواودسونه په وکړه اوڅارویوته یې ورکړې اوبیایې دخپلی اړتیاپه کچه په لوښواوژیوکې واچولی اولږخوراک دیوه لوی لښکرلپاره بس کیدل اودنبی کریم ﷺ په غوښتنه دونواودرخت تګ اوراتګ

ونواوکاڼونبی کریم ﷺ ته سلام کوی اوپه زهرولړل سوی پسه په سترخان باندی خبرورکي ونبی کریم ﷺ ته یې وویل چی مامه خوره ځکه دښمنانوپه ماکې زهراچولی دی اودنبی کریم ﷺ په لاس مبارک کې کاڼوتسبیح ویله اوداسی نوری ډیری معجزی وی ددې لپاره چی لیدونکوته دامعلومه سی چی رسول الله ﷺ ربښتیاهم دالله ﷻ غوره بنده دی اودالله ﷻ رازداره اودهغه نائب اواستازی دی او دهغه احکام یې راوړی دی ځکه داعجیبه اونالیدلی آثار چی دده مبارک ﷺ په لاس باندی ښکاره کیدل داپرته دالله ﷻ له مرستی اوتائیده هیڅ دمنلوړنه دی له دې څخه دامعلومه سوه چی رسول الله ﷺ دالله ﷻ له لوری تائیدسوی دی اود ته دداسی پاک ذات غیبی تائیدپه برخه دی چی دهغه په لاس کې دطبعیات اوعنصریات اوفلکیاتوټول واک دی چی کله وغواړی نودخپل غوره سوی بنده دګوتی په اشاره سره سپوږمۍ دوې ټوټې کوی اوکله چی وغواړی نودهغه له ګوتومبارکوچینه جاری کوی ددې لپاره چی دطبعیاتوماهرین اوپوهان په دې پوه سی چی یوذات داسی هم شته چی دهیڅ سبب اوعلت پابندنه دی.

اود نبوت ددعوه کونکی په لاس باندی چی کوم غیبی آثارښکاره کیږی هغه دقادرمطلق رالیږل سوی پیغمبردی چی فلکی اوعنصری اسبابوخالق اومالک دی اودغیبی آثاروپه ښکاره کولوسره دخالق مقصوددادی چی مخلوق ته داخبره ښکاره سی چی لکه څنګه چی درسول الله صلی الله علیه وسلم ژبه دالله ﷻ دعلم اوحکمت هنداره ده دغه رنګه درسول الله صلی الله علیه وسلم لاس مبارک دالله ﷻ دلاس هنداره ده چی دهغې په واسطه دغیبی قدرت نالیدلی اوعجیب آثارښکاره کیږی لکه چی الله تعالی فرمایلی دی:

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللهَ يَدُ اللهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْراً عَظِيماً﴾ ۱۰آیت سورة الفتح) وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللهَ رَمَىٰ (سورة الانفال آیت ۱۷) دانسان په لاس باندی داسی نالیدلی اونادر کارونه ښکاره کیدل چی هغه بیشکه دانسانی ځواک څخه وتلی دی دادددې خبری دلیل دی چی دده دلاس شاته بل پټ لاس کارکوی اود نبی علیه السلام په لاس چی څه ښکاره کیږی هغه ربښتیاهم دالله ﷻ کاردی دنبی علیه السلام کارنه دی اوکله چی په ممتازونښوسره خلکوته داخبره ښکاره سی چی رسول الله صلی الله ﷺ دالله ﷻ غوره بنده اودهغه نائب اواستازی دی نوخلک به هغه دپیروی وړوبولی اودهغه اطاعت او پیروی دالله ﷻ اطاعت او پیروی ده

سیف لودین کتابتون

خلاصه دخبرې !

نبي علیه السلام د معجزو په ورکولو کې حکمت دادی چې عامو خلکوته دنبي کریم ﷺ دنبوت یقین حاصل سي اودنبي کریم ﷺ په حق کې دامعجزې داسي مثال لري لکه دیوه استازی لپاره سند دنبي کریم ﷺ معجزې خوبې شمیره دي مګر موږ دلته یوائې دهغو معجزو یادونه کوو چې په صحیح احادیثو ثابتي سوې دي له دوئ څخه هره یوه که څه هم دتواتر حدته نه ده رسیدلې مګر ددوئ ټولو شمیر دومره ډیر دی چې په هغه سره دهرچاشک اوشبه لیرې کیږي داسي مثال لري لکه دعلي رضی الله عنه دلاورۍ اودحاتم طائي سخاوت چې په ټوله نړۍ کې مشهور دي ددې خبرشمیر وداسي کچي ته رسیدلي دي چې له دې وروسته چاته دشک اوشبه ځای نه پاته کیږي له همدې کبله دعلي رضی الله عنه دلاورۍ اودحاطم طائي سخاوت په دنیاکې یوضرب المثل وګرزیدی دیهودوپه نزد موسی علیه السلام دلکړې اوسپین لاس معجزه دموسی علیه السلام دنبوت دلیل دی اودنصاراووپه نزد دعیسی علیه السلام مړي راوژوندي کول اومورزاده ړونداودپیس یابرګي مرض ناروغ جوړول دعیسی علیه السلام معجزه اودنبوت دلیل دی همداسي معجزې دحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دنبوت اورسالت دلائل اوعلامې دي اوعیسایان چې درسول الله ﷺ معجزې نه مني داسي مثال لري لکه یهودوچې دعیسی علیه السلام معجزې نه منلې اوانکارېې کوی .

دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم دمعجزوپوره بیان اودمعجزې پیژندنه یاتعریف !

اوس موږ له دې بیانه وروسته دنبي کریم ﷺ معجزې په تفصیل سره بیان کوو اودمعجزه تعریف درته کوو چې معجزه څه ته وایې

دمعجزې تعریف : معجزه هغه کارته وایې چې له عادت خلاف وي اوچاتراوسه نه وي لیدلی اودنبوت ددعوه کونکي په لاس باندې ښکاره سوې وي اوټوله دنیادهغه له مثل راوړلو څخه عاجزه وي ددې لپاره چې نه منونکو اومخالفینو ته داخبره روښانه سي چې داسړی رښتیاهم دالله ﷻ غوره سوی بنده اورالیږلی سوی نبي علیه السلام دی ددښمنانو دعاجزه کولو لپاره الله ﷻ دغیب له پردې دقدرت دانښه ښکاره کړې وي اوخلکوته داخبره ښکاره سي چې غیبي مرسته ددې کاروشاته ده داسړی نه جادوګراونه کاهن دی چې جادوګران اوکاهنان دده مقابله وکولای سي نوکه دچااصلاح اوسمه لار په کاروي اوغواړي چې په دنیااوآخرت کې کامیاب سي نوهغه سړي دي پردې غوره بنده باندې ایمان راوړي اودده په پیروي اومننه سره دې داکامیابي لاس ته راوړي هغه څوک چې الله تعالی خپل خلیفه اونائب اواستازی اودباوروړ ګرزولی وي اوبیایې خلکوته رالیږلی وي دهغه دروغجن ګڼل اونه منلوپایله به پرته له بدبختي اوبربادۍ بل څه نه وي لکه چې الله تعالی فرمایي:

﴿فَانتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ

سیف لودین کتابتون

معجزه پردوه قسمه دی یوعلمی معجزه اوبل عملی یاکاری معجزه دی !

معجزی پردوو برخو ویشل سوی دی یوعلمی معجزه اوبل عملی معجزه عملی معجزه دې ته وایې چې دنبوت ددعوی کونکي په لاس باندی داسی کار ښکاره سی چې دهغه کارله کولوڅخه ټول خلک عاجزه پاته سی لکه دسپوږمۍ دوې ټوټې کیدل

اوعلمی معجزه ودېته وایې چې دنبوت دعوه کونکی داسی معلومات اوخبرونه راوړی چې ټوله دنیادهغه له راوړلوعاجزه پاته سی الله تعالی رسول اللهﷺ ته داوړه رنګه دومره ډیری معجزی ورکړی دی چې ترشمیرزیاتی دی

لومړی علمی معجزه : قرآن کریم ترټولولویه معجزه دی !

درسول الله صلی الله علیه وسلم په معجزاتوکې ترټولولویه معجزه قرآن کریم دی داعلمی معجزه ده اودټولوانبیاء علیهم السلام ترمعجزولویه ده هرڅوک په دې خبردی چې علم پرعمل باندی شرافت لری له همدې کبله په هرفن کې دښوونکودرناوی کیږی اوپه هره وظیفه کې دجنرالانومعاش ترعاموعسکروډیر وی داعزت اوشرافت دعلم دی ځکه عسکر خوترټولی مشرډیر کارکوی مګربیاهم معاش دهغه ډیر وی قرآن کریم درسول اللهﷺ داسی معجزه دی چې بل هیڅ پیغمبرعلیه السلام ته نه دی ورکول سوی دټولوپیغمبرانوعلیهم السلام معجزی به په یوخاص وخت کې ښکاره سوی اوبیابه ختمی سوی خوقرآن داسی معجزه دی چې دزوال اوختمیدولاره نه لری له پیل څخه راواخله بیاتراوسه چې دیارلس سوه درې اتیاکاله ۱۳۸۳ کاله تیرسوی دی هغه رنګه پرته له څه تغیراوتبدیل اوپرته له کمی اوزیادته خوندی پاته دی اودامعجزه به ترقیامته پوری په همدی شان خوندی پاته وی لکه څنګه چې پرنبی کریمﷺ باندی نازل سوی دی .

دقرآن کریم داعجاز طریقی اودقرآن داعجاز لومړی وجه !

علماء په خپلوکتابوکې په بیلابیلولاروسره دقرآن کریم معجزه کیدل ثابت کړی دی هغه لاری خوډیر ی دی مګر موږدلته یوڅوهغه طریقی بیانووکومی چې بیخی ښکاره اوهرڅوک په پوهیږی

دقرآن کریم داعجاز لومړی وجه !

دموسی علیه السلام په وخت کې جادوعام وو الله تعالی موسی علیه السلام ته لکړه اوسپین لاس معجزه ورکړل چې جادوګروخپله ایمان پرراوړی اودعیسی علیه السلام په وخت کې طب ډیر پرمختګ کړی وو الله تعالی موسی علیه السلام ته دناروغانودجوړیدلواودمړیودژوندی کولومعجزه ورکړه اودنبی کریمﷺ په وخت کې فصاحت اوبلاغت داسی حدته رسیدلی وو چې عربونوروخلکوته عجم یعنی ګونګیان ویل اواوس هم وایې نوترټولولویه معجزه الله

سیف لودین کتابتون

رابنکونکي الفاظ او لطافت او نرمي مثال نه، دعربو لوی فصحاء او بلغاء د داسې کلام له راوړلو عاجزه پاته سو او همداد معجزې تعریف دی چې دد ې له راوړلو خلک عاجزه پاته سي معجزه په خپله د نبي ﷺ له واکه هم وتلې وي قرآن کریم د الله تعالی کلام دی د رسول الله ﷺ کلام نه دی لکه څنګه چې ټوله دنیا د قرآن د مثل له راوړلو عاجزه پاته سو دغه رنګ دا قرآن په خپله د رسول الله ﷺ په قدرت کې هم نه وو د رسول الله ﷺ کلام خو حدیث دی د حدیث او د قرآن ترمینځ د ځمکې او اسمان په شیر توپیر دی دعربو د فصیحو او بلیغو خلکو په غونډه کې نبي کریم ﷺ دا اعلان وکی چې تاسو یو سورة د قرآن په شیر وړاندې کی ﴿وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾ (۲۳ آیت سورة البقرة) که ستاسو په دې کې شک وي چې قرآن د الله ﷻ کلام نه دی نو تاسو ټول سره را ټول سي او په ټوله دنیا د اکوښښ وکي چې دیوه کوچني سورة (انا اعطینا) په شیر سورة جوړ کي قرآن په چیغو چیغو کفار وته مقابلې بلنه ورکړه مګر ټول عرب چې فصاحت او بلاغت یې په دنیا کې یو مثل جوړ سوی وو د قرآن دیوه کوچني سورة له راوړلو څخه عاجزه پاته سو او سره له دې چې د الله ﷻ کلام له هغه الفاظو او حرفو څخه جوړ دی د کوم و څخه چې د دوئ کلام جوړ وو او په هغه عربي ژبه وو کوم چې دوئ خبرې په کولې او بل دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خاص اُمي وو نه یې لیک لوست کړی وو او نه یې د کوم عالم ملګرتیا کړې وه او سره له دې د داسې معجز کلام چې له حقائقو او علومو ډک وي د نبي کریم ﷺ له ژبې راوړل د دې خبرې ښکاره دلیل دی چې دا کلام رښتیا هم د الله ﷻ کلام دی د کوم انسان کلام نه دی د رسول الله ﷺ د دې کلام سره یوازې دا تعلق دی چې جبرئیل ﷺ د الله تعالی هغه کلام کوم چې د وحې په ډول باندې وو راوړو په نبي کریم ﷺ باندې یې نازل کړ او نبي کریم ﷺ هغه پرته له څه کمې او زیاده بندګانو ته ورسوی د دې لپاره چې خلک د هغه څخه هدایت حاصل کړي قاضي عیاض په شفاء کې لیکلي دي چې په قرآن کریم په اعتبار د بلاغت سره تر اووه زره زیاتې معجزې دي ځکه د (انا اعطیناک الکوثر) په شان یو کوچنی سورت کې لس کلمې دي او په ټول قران کې تقریباً اویا زره ۷۰۰۰۰ کلمې دي نو کله چې اویا زره پر لس باندې وویشل سي حاصل د قسمت به یې اووه زره اووه سوه کیږي نو په قرآن کریم کې اووزه اووه سوه ۷۷۰۰ معجزې سوي..

یو سوال او د هغه ځواب!

یو شمیر ناپوهان وایې چې په دنیا کې نور کتابونه هم داسې شته چې مثال او نظیر نه لري لکه شاهنامه فردوسي او ګلستان سعدي؟

سیف لودین کتابتون

ځواب : ددې سړي له سوال کولو داسې معلومیږي چې ورته د معجزې حقیقت او د عاجزه کولو کیفیت نه دی معلوم د قرآن کریم اعجاز په دې وجه سره دی چې زموږ خوږ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د عربو کافرانو په مخکې قرآن کریم وړاندې کې او په لوړ آواز یې دا اعلان وکې چې دا قرآن د الله ﷻ کلام دی او زما معجزه دی او که د چا په دې کې شک وي نو ددې په مقابل کې دې داسې فصیح او بلیغ کلام وړاندې کې تر درویشت کالو پورې دا آواز او ننګونه کیده مګر هیچا د قرآن په مثال یوه لیکه هم را نه وړه او ټوله نړۍ د قرآن له یوه آیت راوړلو عاجزه پاتې سوه یو ویونکی دې دا و وایې چې آیا د مقابلې داسې بلنه په بل کوم کتاب کې شته او چا د داسې مقابلې بلنه ورکړې ده او په کوم ځای کې چې دلوستونکو عجز ښکاره سو یوائې د مثال نه لرلو نوم معجزه نه دی ډیر وخت د ښائست او ښه والي په بناء باندې یو عالم یا یو تصنیف ته بې مثال او بې نظیره ویل کیږي مګر ددې مطلب دا نه وي چې دا تصنیف د مصنف معجزه دی او بل دا چې ډیر وخت انسان په خپل ګمان کې یو شئ بې مثال وګڼي خو په واقعت کې د هغه مثالونه بیخي ډیر وي د شاهنامه فردوسي په مقابل کې مرزا احمد نوراني متخلص کچ اشوب د صولیت فاروقي په نامه یو کتاب دی چې تر شاهنامه فردوسي ډیر غوره دی او هغه په فردوسي باندې نیوکې هم کړې دي او بل دا چې د معجزې د پاره لازم دی چې هغه به له عادت خلاف کاروي په هغې کې د ظاهري اسبابو هیڅ دخل نه وي په جادو او معجزه کې فرق هم دا دی چې جادو په زده کړه او کسب سره لاس ته راوړل کیږي او معجزه کوم فن نه دی چې په زده کړه او تعلیم سره حاصله سي او ښکاره خبره ده چې سعدي او فردوسي په کلونو کلونو د زده کړې او تعلیم ستونزې ګاللې دي او په کلونه کلونه یې په مدرسو کې سبقونه ویلي دي او د استاذانو څپلې یې سمې کړې دي او ددوئ څخه یې سبقونه ویلي دي او زده کړه به یې ځنې کوله نو که د کلونو تکلیفو او ډیرو سختو ستونزو او کوښښ وروسته ددوئ کلام د بل چا د کلام څخه لوړ سي نو دا نه د تعجب ځای دی او نه ودې ته معجزه ویل کیږي په هره زمانه کې او په هره ژبه کې لوی عالمان پوهان او ادیبان تیر سوي دي لکه په عربي ژبه کې بدیع الزمان همداني وحریري مګر هغوئ معجز نه دي

او په فارسي کې سعدي او فردوسي او په انګریزي کې ملټن او په سنسکرت کې کالیداس او په اردو کې محمد حسین آزاد او په پښتو کې رحمان بابا او داسې نور د چا کلام چې د خپل وخت تر کلام لوړ او ممتاز وي نو دا د کلونو کلونو د تکلیف او ستونزو ګاللو میوه ده نه معجزه په دې سلسله کې یو شمیر ناپوهان د فیضي د تفسیر نوم هم اخلي او وایې چې دا بې نظیره دی تر ننه پورې دده مثال نه دی راوړل سوی ؟ ددې ځواب په خپله د فیضي له ژبې څخه واورئ چې هغه د خپل تفسیر په خطبه کې قرآن کریم د الله ﷻ نازل سوی کتاب مني او وله [illegible] لکه چې فیضي وایي :

(العلوم كلها صداع الاعلم كلام الله وكلام الله لاعدّ لمحامده ولاحد لمكارمه ولاحصر لرسومه ولااحصاء لعلومه وماعلم علوم كلام الله كلها احد الاالله ورسوله واولوالعلم ماعلموا الاعدادا)

ژباړه : ټول علوم پرته دقرآن له علمه ټول دسردرد دی اودالله ﷻ دکلام دصفاتو هيڅ شميرنسته اودهغه دمحاسنو هيڅ پای نسته اودهغه دربښتينوالی شان تراندازه کولو تيردی اودقرآن علوم دومره بی شميره ډيردی چی دهغو حاصلول امکان نه لری کوم علوم چی په قرآن کريم کې شته هغه ټول دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ څخه پرته هيڅوک نه پيژنی اوټولو علماء ته چی کوم علم حاصل سوی دی هغه ددې بې پايه معلوماتو کوچنی برخه ده دالله ﷻ دکلام په هکله په خپله دفيضی اقراردی اوس له دې اقراره وروسته دفيضی کتاب په مثال کې رواړل ډيره بی حيايې ده اوددعوه کونکي سست اوبی معنی مضمون دی اوکه بالفرض فيضی اوسعدی اوفردوسی دقرآن په شان دنياته بلنه ورکړې وی نودامعلومه نه ده چی څومره شاهنامی اوڅومره ګلستانونه به دنبی کريم ﷺ دمريانومريانو ليکلی وای اودنيا په مخ کې به يې وړاندی کړی وو

دقرآن کريم داعجاز دويمه وجه !

دقرآن کريم داعجاز دويمه طريقه داده چی قرآن دهدايت دعلم يو پوره کتاب دی څوک چی دقرآن کريم دعلوموا ومعلوماتو څيړنه اوپلټنه کوی نوهغه به په دې معجز کتاب کې عقائد ، اعمال اخلاق ، تمدن ، ټولنيزژوند ، دحکومت کولوچاری ، اسلامی سياست ، ددين اصول ، دنفس پاکوالی ، پرمختګ اودالله ﷻ دپيژندلولاری اودنفس پاکوالی او د امارت اومشرتوب ، اوعدل برابری ، اوالله ﷻ ته درسيدلو اونژدی کيدلو دغه ټول قوانين اومادی به هغه ته په دې کتاب کې په لاس ورسی چی ددې په ليدوسره به بی اختياره دده زړه اوبدن اودده ژبه شاهدی ورکوی چی ربښتيا هم دادالله ﷻ کلام دی اوربښتيا هم دالله ﷻ نازل سوی کتاب دی

ددا سی علوموا ومعلوماتو خزانه په يوه کتاب کې دټولی دنيا حکماء چی سره يوځای سی هم نه سی وړاندی کولای پاته داچی ديو امی قوم له يو امی سړی څخه دی ددې هيله وسی چی هغه دې يودا سی بشپړ کتاب دنياته وړاندی کی چی ددنيا اوآخرت دواړوسمون اوکاميابی په کښې وی اودالله ﷻ دحقوقو اودبندګانو دحقوقو اودخپل ځان حقوق يې په تفصيل سره بيان کړی وی اودنړۍ دټولو باطلو دينو ديهودا ونصاری اومشرکين اومجوس اوصابئين بطلان يې په دلائلو ثابت کړی وی او په نړۍ کې دهيڅ دين دپلويانو داتوان نسته چی هغه دقرآنی آياتو ددلائلو ځواب ورکړی آيادادې خبری ښکاره دليل نه دی چی ربښتيا هم قرآن دالله ﷻ يونازل سوی کتاب دی

سیف لودین کتابتون

دقرآن کریم داعجاز دریمه وجه داده چی قران کریم دراتلونکوحالاتوپه بیانولوباندی مشتمل دی چی دکوموشیانونوم اونښان هم نه وو اوانسانی عقل دهغه له تصورکولو څخه عاجزه وو قرآن کریم دهغه دراتلواوپښید وخبرورکړی دی اوبیاپرته له څه کمی اوزیادته دقرآن کریم دخبربرابرهغه کارهغه رنګه سوی دی لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چی ترهجرت مخکې داخبرورکي چی رومیان به په فارسیانوغالبه کیږی لکه چی الله تعالی فرمایلی دی :

﴿غُلِبَتِ الرُّومُ﴾ (۲) ﴿فِي أَدْنَى الْأَرْضِ وَهُم مِّن بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ﴾ (۳) آیت سورة الروم)

او دبدرپه غزاکې دکافرانودماتی خبرورکي ﴿سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ﴾ (۴۵ آیت سورة القمر)

اودین اسلام دغلبی اوښکاره کیدوخبریې ورکړی دی لکه چی الله تعالی فرمایلی دی

﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾ ۹ آیت سورة صف)

اونورډیر داسی ځایونه شته چی تفصیل به ان شاء الله تعالی دوړاندوینوپه بیان کې راسی لنډه داقرآن کریم چی دراتلونکي وخت په هکله کوم خبرورکړی دی هغه هم هغه شان واقع سوی دی لکه څنګه چی قرآن کریم خبرورکړی وو اوبل داچی قرآن کریم دپخوانوانبیاء اوپیغمبرانو علیهم السلام په قصواودمخکنیوامتوپه پیښواوحالاتوباندی مشتمل کیدل لکه دابراهیم علیه السلام اوموسی علیه السلام اوعیسی علیه السلام اویوسف علیه السلام اوذوالقرنین اواصحاب کهف اوداسی نوری قصی چی داهل کتاب علماء هم په دې پوره نه وو خبر نبی کریم ﷺ چی کله داآیاتونه داهل کتاب دعلماء په مخکې تلاوت کړه نوهیچاهم انکارونه سوکولای، علماء که داعجاز دطریقوپیژندل اوڅیړنه غواړی نودقاضی ابوبکرباقلانی اعجاز القرآن اوپه شفاء دقاضی عیاض کې دی بحث داعجاز القرآن وګوری اوپه اردوژبه کې دې حقیربنده هم یوه کوتاه رساله داعجاز القرآن په نامه لیکلی ده هغه وګورئ ..

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دویمه علمی معجزه حدیث نبوی دی !

له قرآن کریم څخه وروسته درسول الله صلی الله علیه وسلم علمی معجزه حدیث نبوی دی چی له دوئ څخه دشریعت اوملت په نامه هم تعبیرکیږی داحادیثوپه پوره والی اویوځای کیدوسره دلږعقل لرونکي هم په دې یقین باندی مجبوره کیږی چی دداسی ترعقل لوړ اوترفطرت لوړ قانون چینه پرته دالله تبارک وتعالی له ذات بل هیڅوک نه سی کیدای په ځانګړی ډول بیاهغه څوک چی هغه خالص امی وی چی نه یې لیکل زده وی اونه یې څه لوستلی وی دده له ژبی داسی حیرانونکي چینه څنګه جاری سوه له دې معلومیږی چی شا ته یې یوغیبی ژبه سته له هغه څخه داحیرانونکي چینه راوزی موسی علیه السلام چی کله له ونی څخه آوز واوریدی هغه په حقیقت کې دونی اواز نه بلکې هغه اواز دالله ﷻ وو اوونه دټیلفون په منزله وه چی دعالم الغیب آوازیې موسی علیه السلام ته رارسوی دغه رنګه دنبی کریم ﷺ له ژبی چی څه ویل سوی دی هغه دالله ﷻ وحی وه معاذالله ځانی خبری نه وی لکه چی الله تعالی فرمایی ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ﴾ (۳) ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ﴾ ۴ آیت سورة

سیف لودین کتابتون

النجم) ځکه اسلامی شریعت چې دکوموعقائدو ښوونه کوی هغه له دروغو اوبې بنیاده خبرو څخه پاک دی اوپه عقلی اونقلی اوفطری دلائلوسره ثابت دی چې ذهغه په اړه دایقین کیږی چې داعقیده یقینا اوقطعاريښتیاهم صحیح اوريښتینی عقیده دی اوشریعت اسلامی چې دکوموښواخلاقوحکم ورکړی دی دهغومثال نه په لومړنیو اونه آخرنیو کې شته ددې ښواخلاقو هیڅ نظیرنسته

اودغه رنګه اسلامی شریعت چې دکوم عبادت اوتجارت اوکاروباراحکام جاری کړی دی هغه په بې شمیره حکمتواوښیګڼوباندی بناء دی دبندګانودحقوقوکوم تفصیل چې په احادیثوکې بیان سوی دی اواسلامی شریعت دامسائل حل کړی دی ترانسانی عقل ډیرلوړدی

اودفرنګی زامنوهم په دې اقرارکړی دی چې تورات اوانجیل اودپخوازمانی اونوی وخت ټولی صحیفی داسلامی تعلیماتومقابله نه سی کولای.

اوبل داچې په نړۍ کې انبیاء علیهم السلام اوحکماء اوپاچهان اونورعلماء په سلهاووزره تیرسوی دی مګردهیچادژوند داسی پوره احوال اوخبری په داسی متصل سندسره نه دی وړاندی سوی په داسی حیرانوکي اندازسره چې درسول الله صلی الله علیه وسلم ناسته ولاړه اودهغه دژبې مبارکی څخه وتلی الفاظ اوخبری چې خوندی سوی دی په مخکې اوپه آخرنیوکې دهغه مثال نسته یواځی دنبی کریم ﷺ دژوند دخوندی ساتلولپاره دهغه دافعالواوخبرو روایت کونکو دزرګونوراویانودژوندڅیړنه اوتحقیق کړی دی ددې لپاره چې دنبی کریم ﷺ دژونددمطالعه کونکودپاره دشک اوشبه ځای پاته نه سی دوئ علم اسماء الرجال اوعلم الاسناداوعلم اصول الحدیث جوړکړه ددوئ هدف یواځې دادی چې درسول الله ﷺ اقوال اوافعال اواعمال داسی خوندی پاته سی لکه څنګه چې وو دسندلړۍ اوطریقی داسی بیان سوی دی چې لوستونکي ته داسی یقین وربښی چې هغه دافکر کوی چې ماپه خپلوسترګولیدلی دی داحادیثوشپږکتابونه لکه بخاری ، مسلم ، ابواؤد، نسائي، ترمذی ، ابن ماجه ددې کتابوپه کتلوسره سړی حیران پاته کیږی چې په څومره حیرانونکي اهتمام اوکوشش سره احادیث نبویه سره یوځای سوی دی اومحدثین کرام نورالله مراقدهم داحادیث دصحت اوڅیړنی لپاره څومره سخت قوانین اوقاعدی ترتیب کړی دی موطاء امام مالک ، صحیح بخاری ، صحیح مسلم ، سنن ابوداؤد ، سنن النسائی ، سنن الترمذی ، سنن ابن ماجه ، اوداسی نور ددنیاپه مخکې پراته دی مګر تراوسه لله الحمدیوملحداوزندیق پرډې نه دی توانیدلی چې په یوه لفظ کې زیادت یانقصان وکړی

سیف لودین کتابتون

اوداحادیثوپه کتابوکې یویوحدیث دتحقیق اوتدقیق په ترازوتلل سوی دی اودهریوه حدیث دراویانوټول حالات یې بیان کړی دی اودهرحدیث درجه یې معلومه کړې ده چې داصحیح دی داحسن داغریب دی یاضعیف یامنکر دی

اوډیره خوشالونکې خبره لاداده چې درسول الله صلی الله علیه وسلم داقوالواوافعالوروایت کونکي لومړنۍ طبقه صحابه کرام ؓ دی چې په دوئ کې لله الحمدیوسړی هم په قسم کولوسره دروغجن نه دی ثابت سوی دصحابه کرام ؓ شمیریولک اوڅلیرویشت زره وو ددومره لوی جماعت څخه دیوه تن په اړه ترننه پوری دانه دی ثابت سوی چې هغه دې یووخت دروغ ویلې وی داهم دنبی امی فداه ابی وامی صلی الله علیه وسلم یوه معجزه ده چې دده په پالل سوو کې یوتن هم دروغجن نه دی راوتلی ددې لومړنیوراویانوڅخه وروسته دویمه اودریمه طبقه دراویانوژوندهم په عام ډول باندی له دروغوخوندی لیدل کیږی ددوئ ټولوداعقیده وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دروغویوه خبرنسبت کول ګناه کبیره اولوی جرم دی

په ټوله نړۍ کې یوعیسایې اویهودی دانه سي ویلای چې ددوئ دسند سلسله څنګه ده اوپه کومه لاره اوکوم سندسره دوئ ته داانجیلونه اودحوارینورسائل اولیکونه رسیدلی دی اوددې سلسله دسندراوی څوک دی اوکوم خلک دی اودکومی پیړی دی اوپه دوئ کې څوک دمنلووړ اومعتبردی اوڅوک دمنلووړنه دی دعیسایانوعلماء دعیسی علیه السلام یوه خبره هم په متصل سندسره نه سی وړاندی کولای

اودمحدثینومبارکانوحال دادی چې یوه کلمه هم پرته له سنده ددوئ په دربارکې دمنلووړنه ده دحدیثومشهورکتابونه دداسی نیکانوخلکوپه وخت کې راغونډسوی اوترتیب سوی دی اودترتیب اویوځای کیدو وروسته دمصنفینوپه وخت کې خلکوله دوئ څخه لوستلی اوحفظ کړی دی اوترننه پوری دهغه کتابوسندونه په متواتروسلسلوسره په نړۍ کې موجوددی اودمشرق اومغرب دعلماء تردرس اوتدریس لاندی دی تاسولږ فکروکړی چې دیومبارک ذات خبری اوکارونه دخوندی ساتلوپاره داسی انتظام اواهتمام آیادانسانی تدبیراوکوښښ نتیجه ده هیڅکله نه دایوائحی دالله ﷻ دتائیدآثاردی چې دغیب له پردی څخه دنبی امی صلی الله علیه وسلم دحدیث دساتنی لپاره ښکاره سوی دی دعلم حدیث اودهغوپه اړوندعلوموافنونوته له کتلووروسته ددنیادټولوتاریخومرتبه له نظره لویړی اوړښتیاهم چې کوم ذات دټولوقومونواوټولوهیوادونولپاره ترقیامته پوری هدایت کونکي اولارښوونکي راغلی دی دهغه دژونداودهغه دخبرواوافعالوپه داسی معجزانه ډول باندی خوندی کیدل په کاردی چې ترقیامته پوری دراتلونکونسلونولپاره څه د شک اوشبه ځای پاته نه سی

سیف لودین کتابتون

او څوک چې د نبی امی صلی الله علیه وسلم ژوند په خپلو سترګو لیدل غواړي نو د احادیثو نبویه له پردی څخه هغه لیدای سی

داځه چې موږ درته بیان کړه دا د حدیث نبوی ﷺ د اعجاز بیان وو چې د هغه تعلق له روایت د حدیث سره دی یعنی د حدیث د الفاظو بی مثال ساتنی سره تړاو لري

خو که تاسو د احادیث اعجاز د علم او فقه په رڼا سره کتل غواړي نو د امامان او مجتهدین او د امت د فقهاء کتابونه وګوری چې په هغه سره به تاسو ته معلومه سی چې د شریعت قوانین څومره باریک او ژوردی چې د هغه په راایستلو کې د امت علماء او فقهاء څومره حیران او ستړی سوی دی سره له ډیره تیزی او ذکاوة د شریعت د نصوصو په څیړنه او پلټنه کې یې ټول ژوند تیر کړ له دنیا رخصت سو او داسی یې وویل

(نه حسنش غایتی دارنه سعدی را سخن پایان.............. بمیرد تشنه مستقی و دریا همچنین باقی

لکه څنګه چې د محدیثنو وجود د نبی امی صلی الله علیه وسلم یوه معجزه ده تو پیر دومره دی چې لومړۍ معجزه د روایت دی او دویمه معجزه د درایت یعنی علم دی

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دریمه علمی معجزه د اسلامی امت علماء حق دی !

د نبی کریم ﷺ له معجزو څخه یوه معجزه د امت علماء او ښه خلک دی الله تعالی د رسول الله ﷺ امت تر ټولو امتو غوره ګرزولی دی او د دوئ یې د انبیاء علیهم السلام وارثان کړی دی (۱)

او داسی لامثال حافظه او لامثال علم او پوهه یې ورکړې ده چې په لومړنیو او آخرینو کې د دې هیڅ مثال نسته محدثینو مبارکانو ته یې داسی قوی حافظه ورکړی دوئ یې د کراماً کاتبین ملائکه وو یوه نمونه ګرزولی دی او فقهاء کراموته یې د اجتهاد او د مسئلو د راکښلو او د باریکیو د پوهیدلو دومره قوت ورکړی چې دوئ یې د مقربینو ملائکه وو یوه نمونه ګرزولی ده او خپلو خاصو دوستانو او بزرګانو ته یې د خپل عشق او محبت شتمنی ورکړی ده او د عرش عظیم د بیت المعمور چې په شپه او ورځ طواف کوی یوه نمونه ګرزولی دی په هیڅ امت کې د اسلام د علماء په څیر د علم او پوهی او څیړنی او پلټنی داسی ښبه او ښان نسته او نه د دوئ د تصانیف کوم مثال وړاندی کولای سی غربی نړی په کسب او کاریګری کې حیرانونکي کارونه وښودل مګر په غربی قومو کې د تورات او انجیل نه کوم بخاری او مسلم پیدا سو چې د دوئ تورات او انجیل یاد وی او نه د یحی بن سعید القطان او یحی بن معین په څیر د اسماء الرجال حافظان او عالمان پیدا سو کوم قوم چې د خپلو پیغمبرانو په کتابو او صحیفو کې په خپله پوهه تغیر او تبدیل کړی وی په داسی قومو کې د احمد بن حنبل او یحی بن معین په څیر حافظان حدیث څرنګه راتلای سی، او نه د یهودو او نصاری په لومړنیو او وروستنیو کې د ابو حنیفه او شافعی په څیر فقیه او مجتهد تر سترګو کیږی چې هغوئ د دین

(۱) د تفصیل لپاره زرقانی شرح مواهب باب خصائص امت محمدیه)

سیف لودین کتابتون

او دنیا اعتقاداتو عباداتو معاملاتو ټولنیزژوند او ملکي سیاست ټول مسائل د تورات او انجیل د آیاتو په رڼا کې حل کړي وي او نه د ابوالحسن اشعري او ابومنصور ماتريدي او امام غزالي او امام رازي په شير متکلم او په عقائدو پوه پیداسو چې کله د مباحثي او مناظرې میدان ته راووزي نو د عقائدو اسلامیه د خېړنې لپاره د عقلي او نقلي دلائلو یو لښکر ورسره وي ، او د باطل پرڅټ باندې د هغه توره هروخت لوړه وي او د نیا د اسلام د برياليتوب او د کفر د ماتې او ذلت او سرټيټي ننداره کوي ، او نه د جنید بغدادي او معروف کرخي په شير عابد او تقوی داره او د الله ﷻ عاشق او مجنون په کوم امت کې پيداسو ،، او نه د خليل بن احمد او سبويه په شير د علم اعراب باني او امام په کوم ملت کې پیداسو او نه د عبدالقاهر جرجاني او سعدالدين تفتازاني په شير د بلاغت درازونو او اعجاز د دلائلو امام په یوه امت کې پیداسو

دیهودو او نصارى علماء دي په عبراني ژبه یا سریاني ژبه په لغت کې یو لسان العرب او قاموس او تاج العروس په شير یو کتاب خووړاندي کي د جمال الدين ابن حاجب او جامي خوځه یادونه کوی میزان او منشعب او صرف میر او نحو میر خو د علم صرف او نحو بیخي د کو چنیانو کتابونه دي د ځمکي پر مخ دي یهودا و نصاری د عبراني او سرياني ژبې په هکله یو میزان او منشعب خو میدان ته راوړي دا څو علوم د نمونې په ډول موږ یاد کړه نور پردي قیاس دي

دیهودا و نصاری ووځه زموږ دا غوښتنه ده چې د اسلام علماء د شريعت موسويه او شريعت عیسویه له علماء سره پرتله کي او بیا وګوري صنعتي او کسبي پرمختګ ته وګوري د علمي او اخلاقي پرمختګ نه دي بلکې د اکاريګري ده په دې کې ورځ تربلې نور پرمختګ کیږي او ښکاره خبره ده چې په اسلام کې د اعلمي او عملي او اخلاقي پرمختګ ټول د رسول الله صلى الله عليه وسلم د شريعت اسلاميه د پیروی په برکت سره د علم او حکمت دروازې پرانیستل سوی او په امت محمدیه کې داسي بی مثال علماء او فضلاء او اولیاء او پرهيزګاران پيداسو چې په هيڅ امت کې د دې مثال نسته

دنبي كريم ﷺ څلورمه معجزه !

څلورمه معجزه هغه غیبي آوازونه وو چې خلکو ته په زنګلو او بیابانو کې وسو چې د انبي ﷺ حق دي د الله ﷻ له لوري د مخلوق د هدايت لپاره راليږل سوی او دده مبارک په پيروي کې خلاصون دي د معجزاتو بیان په خصائص کبری للسيوطي کې جلد ۱ / ص / ۱۰۱ تر ۱۱۰ پوري وګوري

دنبي كريم ﷺ پنځمه معجزه !

پنځمه معجزه دا ده چې له ونو درختو بوټو کانو ښځه سلام او ريدل سوی دي چې په دې کې دنبي کريم ﷺ د نبوت شاهدي وه او پرده باندي به يې داسي سلام وايو (اسلام عليک يارسول الله) او يوه ورځ خو نبي کريم ﷺ ونه راوغوښتله ونه دنبي كريم ﷺ په حکم راغله او کله چې

سیف لودین کتابتون

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په هکله د تيرو سويو پيغمبرانو پيش ګويې پاو ړاندوينه !

د نبوت له يو شمير دلائلو څخه يو دليل د نبي کريم ﷺ د نبوت دادی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په هکله مخکنيو پيغمبرانو عليهم السلام خپلو امتوته زيرې ورکړی وو چې په آخره زمانه کې به يو غوره نبي عليه السلام د عربو په هيوادکې راسي

او په دې بنياد باندې اهل کتاب دهغه نبي په انتظار وو څکه د اهل کتاب يو شمير مخلصو علماء لکه عبدالله بن سلام رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د نبوت د دعوه په اوريدو سره سمدستي ايمان راوړی او د اهل کتاب ډيرو علماء به د نبي کريم ﷺ د رابنکاره کيدو څخه مخکې هغه زيرې ورکول او دهغو زيرو د صحت شاهدي به يې ورکوله او خلکوته به يې ويل چې د نبي آخرزمان د رابنکاره کيدو وخت رانژدې سوی دی مګر سره له دې پوهې او يقين د کين او حسد په وجه دوئ د نبي کريم ﷺ د بنمنی ته ملاوتړله او د نبي کريم ﷺ د بنمنان سو لکه چې الله تعالی فرمايې ﴿الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ (١٣٦ آيت سورة البقرة) ژباړه : کوم خلکوته چې موږ کتاب يعنې تورات او انجيل ورکړی دی هغه دا نبي بنه پيژني چې دا هغه نبي دی د کوم چې په تورات او انجيل کې زيرې ورکړل سوی دی او اهل کتاب د نبي کريم ﷺ صورت او شکل ته چې وګوري نو داسې يې پيژني لکه څنګه چې د خپلو زامنو شکل او صورت ته وګوري او پيژني يې او په دوئ کې يوه ډله حق پټوي او سره له دې چې دوئ بنه پوهيږي . .

که چيرې د نبي کريم ﷺ د نبوت زيرې په تورات او انجيل کې نه وو يادسوی نو د يهودو او نصاری علماؤ به د نبي کريم ﷺ د دې دعوی په هر مجلس کې انکار کوی او داسې اياتونه (النبي الامي الذى يجدونه مكتوبا عندهم في التوراة والانجيل) له اوريدلو وروسته به هلته ورتلل او په ټول ځواک او قوت سره به يې ويل چې دا غلط دی او ټول يهود او نصاری به يې خبر کړی وای او کوم يهود او نصاری چې په اسلام کې داخل سوی وو دهغوئ د اسلام له وتلو به يې کوښښ کړی وو او خودوئ په دې پوهيدل چې ربنتيا هم د نبي کريم ﷺ يادونه په تورات او انجيل کې سوی ده

دا رنګه نبي کريم ﷺ د يهودو او نصاری وو مدرسوته ته ورتلی او دوئ ته يې داوينا کوله چې زه هغه نبي عليه السلام يم کوم چې په تورات او انجيل کې زما زيرې ورکړل سوی دی دا د دې خبرې يقيني دليل دی چې نبي کريم ﷺ په دې زيرو يقيني خبر وو او ټينګ جزم يې وو او د تاريخ او سيرت په کتابو کې په تفصيل سره دا حالات ذکر سوی دی چې د يهودو او نصاری علماء ته د پخوانو صحيفو له وړاندوينو څخه د نبي کريم ﷺ د نبوت او زوکړې وخت معلوم وو

سیف لودین کتابتون

(۱) سیف ذي یزن دیمن والی دنبی کریمﷺ نیکه عبدالمطلب ته دنبی کریمﷺ دزوکړی په نژدی وخت کې خبرورکي چی ستاپه کورنۍ کې به نبی آخرزمان پیداکیږی (۲) نبی کریمﷺ ددولسو کالووو چی له خپل آکاابوطالب سره دشام په سفرولاړی په لاره کې یونصرانی عالم بحیراراهب چی کله نبی کریمﷺ ولیدی نوابوطالب ته یې وویل چی دخپل وراره ډیر خیال ساته ځکه دابه ددنیاآخری نبی وی ماپه آسمانی کتابوکې دنبی آخرزمان علامی لیدلی دی هغه ټولی په ده کې موجودی دی یهودبه دده خاص دښمنان وی چی داتفصیلی قصه مخکی تیره سوی ده (۳) دویم ځل بیارسول اللهﷺ دپنځه ویشتوکالوپه عمرکې شام ته سفروکي په شام کې نسطورراهب نبی کریمﷺ ته په غوروکتل اودقافلی خلکوته یې وویل چی داسړی به نبی اخرزمان وی زموږ په کتابوکې چی کومی علامی دنبی اخرزمان لیکلی دی هغه ټولی په ده کې شته، داقصه هم دکتاب په سرکې تفصیلاتیره سوی ده (۴) دنبوت په پیل کې چی کله خدیجة الکبریؓ دخپل آکازوی ورقه بن نوفل ته له نبی کریمﷺ سره یوځای ورغله اودنبی کریمﷺ دنبوت یې ورته وویل نوورقه بن نوفل هم وویل چی داهغه نبی اخرزمان دی چی دهغه زیری موسیؑ اوعیسیؑ ورکړی دی داقصه هم دکتاب په سرکې تیره سوی ده (۵) سلمان فارسیؓ په سرکې مجوسی وو له هغه مذهب بیزاره سو اویهودیت یې غوره کی مګرپه یهودیت سره یې زړه تسلی ونه کړه نویهودیت یې پرېښودی اوعیسائیي سو له نصاری عالمانوسره یې ډیر وخت تیرکي اودنبی اخرزمان وړاندوینی یې ځنی واوریدلی هغه یې ښه په یادوساتلی کله چی رسول اللهﷺ مدینی منوری ته هجرت وکی اوسلمان فارسیؓ دنبی کریمﷺ دراتلوخبرواوریدی سمدستی دده په خذمت کې حاضرسو دنبی کریمﷺ مخ مبارک چی یې ولیدی پوه سو چی داهغه نبی اخرزمان دی چی دهغه یادونه مااوریدلی ده داقصه هم تفصیلی تیره سوی ده (٦) دحبشه پاچانجاشی دپخوانوپیغمبرانودوړاندوینوپراساس نبی کریمﷺ باندی ایمان راوړی اوپه اسلام مشرف سو داقصه هم تفصیلاتیره سوی ده (۷) په کال اتم ۸ هجری کې دروم پاچاهرقل ته نبی کریمﷺ داسلام بلن لیک ولیږی نوهغه هم دنبی کریمﷺ دحالاتوپوښتنه وکړه سمدستی یې دااقراروکی چی داهغه نبی اخرزمان دی چی دهغه یادونه په پخوانوکتابوکې سوی ده اوموږ یې په انتظاروو داقصه هم په تفصیل تیره سوی ده

څوضروری خبری ! مخکې تردې چی موږ دپخوانوکتابو څخه درسول الله صلی الله علیه وسلم بشارتونه اوزیری درته راوړو به داوی چی دحق دغوښتونکودپوهی لپاره څو ضروری خبری درته بیان کړو ددی لپاره چی داهل کتاب په تیروتنه کی رانه سو

سیف لودین کتابتون

لومړۍ ضروري خبره ! (۱)

ديهودو اونصارى داغلط فكر دى چې دنبى دنبوت ثابتولولپاره داشرط دى چې تردہ مخکې پيغمبرانو عليهم السلام به دهغه نبى دراتلوخبرورکړى وى اودهغه نبى نښي به يې خلکوته ښودلى وى نوچې په کوم دعوى کونکي کې دانښې پيداسى نوهغه به رښتيانبى وى دروغجن به نه وى اوکه دانښې نه وى نودروغجن دى ديهودواونصارى علماؤددې له ځانه جوړه سوى قاعدى پراساس وايې چې په مخکنيوکتابوکې دمحمدرسول الله صلى الله عليه وسلم هيڅ وړاندوينه نسته اوکومې وړاندوينې چې داسلام علماء وړاندکوى هغه پرنبى کريم ﷺ باندې نه صادقيږى

(۱) مسلمانان وايې چې اول خوداله ځانه جوړه سوى قاعده غلطه ده ځکه دنبوت داثبات لپاره دتيرسوى نبى دراتلونکى نبى خبرورکول لازمى نه دى ځکه دراتلونکى نبى نبوت که دمخکې نبى پرخبرموقوف سى نوتسلسل لازميږى يعنى يونبى دهغه بل نبى خبرورکوى هغه به دهغه بل هغه دبل پاى ته به نه رسيږى

(۲) تاسودحزقيل اودانيال اواشعياء اوداسى نورونبوت منى اوسره له دې چې ددوئ يادونه اوددوئ خبرورکول په پخوانوکتابوکې نسته نوله دې معلومه سوه چې په اصل کې دنبوت دارومدار په معجزواوعلاماتودنبوت دى خوداهم کيداى سى چې مخکى نبى دراتلونکي نبى دراښکاره کيدو اودنبوت خبرورکړى داخبردهغه نبى ﷺ په لوړوالى اولوړشان باندى دلالت کوى اوپاته سوه داخبره چې داعلامې پرنبى کريم ﷺ نه صادقيږى نودابه موږدهربشارت لاندى ښه روښانه کړو ان شاءالله

(۳) دنصارى علماء پردى متفق دى چې مخکې پيغمبرانودمسيح دراتلوخبرورکړى دى مګر ديهودو مشران اوکشران دعيسى ﷺ خبر نه منى قطعاً له دې څخه منکر دى دنصارى وو علماء چې کوم خبرونه دمسيح ﷺ په حق کې وړاندى کوى نويهود سمدستى په هغوکې تاويلونه کوى چې داخبرونه پرمسيح ﷺ نه صادقيږى نولکه څنګه چې يهوددمسيح ﷺ له خبرورکولوڅخه منکردى دغه رنګه نصارى دحضرت محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم له خبرڅخه منکردى

(۴) اوبل داهم لازمى نه دى چې که مخکې نبى دراتلونکى نبى خبرورکي نودهغه صفات اوعلامې اوځانګړى خصوصيات به داسى بيانوى چې دهغه نبى په ليدوسره سمدستى ټول خلک په دى پوه سى چې دارښتياهم هغه نبى دى چې مخکې نبى يې خبرورکړى وو ځکه نبى ﷺ که داسى وپيژندل سى نوبيادمعجزاتواودنبوت ددلائلوڅه اړتياپاته کيږى

---

(۱) ازالة الاوهام صفحه ۴۵۰ تاليف مولانارحمت الله کيرانوى ﷺ

سیف لودین کتابتون

دویمه خبره !(۱)

دبنی اسرائیلوله انبیاء څخه ډیروپیغمبرانولکه اشعیاء اوارمیاء اودانیال اوحزقیل اوعیسی علیهم السلام دډیروراتلونکوپیښنو اوحالاتوخبرورکړی دی لکه دبخت نصراوفورش اواسکندر اوداسی نوروڼدراتګ اودځمکی اودیوال اومصراونینوی اوبابل کې دپیښنوراتلل نوروغ اوسالم عقل داخبره ناممکن بولی چې انبیاء علیهم السلام دی دداسی وړواوکوچنیوپیښنوخبرورکړی وی اودنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دنبوت خبردی نه وی ورکړی چې تردې لویه پیښه په دیناکې هیڅ نه ده پیښه سوی نوله دې معلومیږی چې مخکنیوپیغمبرانودنبی کریم ﷺ دښکاره کیدو هرومرو خبرورکړی دی مګر اهل کتابو هغه زیری اوخبرونه له اسمانی کتابوڅخه ایستلی دی یایې بدل کړی دی اوکوم خبرونه چې له دوئ څخه پاته سوی دی په هغوکې تأویلونه کوی

دریمه خبره !(۲)

دعیسایانو دادعوه چې عیسی ﷺ خاتم النبیین دی ترده وروسته بل نبی نشته خومسلمانان په ځواب کې وایې چې دنصاری وودا خبره بیخی غلطه اوبی اساسه ده

(۱) اول ځکه عیسی ﷺ هیڅکله اوهیڅ وخت دانه دی ویلی چې زه خاتم النبیین یم ترماوروسته بل نبی نشته په یوه انجیل کې په یوه ځای کې هم داسی یادونه نه دی سوی چې عیسی ﷺ خاتم النبیین دی

(۲) دویم : اوبل داچې عیسی ﷺ هیڅ وخت دانه دی ویلی چې زمااسمان ته له ختلو وروسته به رښتینی نبیٰ نه راځی بلکې دخپل ځان څخه وروسته یې دیولوی عظیم الشان نبی دراتلوخبرورکړی دی دفارقلیط زیری یې ورکړی دی اوپه هغه باندی دایمان راوړلوټینګاریې کړی دی اوپه دې بناء باندی داهل کتاب علماؤ دفارقلیط دراتلوپه انتظارشپی ا وورځی تیرولی ځکه په انجیل کې دهغه دراتلووعده سوی وه اوپه دې وجه مونطانس دخپل ځان په حق کې دفارقلیط کیدودعوی وکړه اوډیرخلک دهغه تابع سو

(۳) دریم : نصاری دحوراییینو اوپولوس دنبوت منونکی دی اوسره له دی چې ترعیسی ﷺ وروسته دی نوکه عیسی ﷺ خاتم النبیین وی نوبیاتاسوولی دوئ نبوت منی

(۴) څلورم : دکتاب الاعمال په یوولسم باب کې لیکل سوی دی ۲۷آیت.په دې ورځوکې څوپیغمبران له یروشلم څخه انطاکیه ته راغلل ، ۲۸، په دوئ کې یوپیغمبرچې دهغه نوم اګبس وو ودریدی اودروح په هدایت سره یې ښکاره کړه چې په ټوله دنیاکې به لویه وچکالی راځی اوداد کلودیس (قیصرروم) په وخت کې پیښه سوه انتهی

(۱) اظهارالحق جلد ۲ /ص/ ۱۱۶ (۲) اظهارالحق جلد ۲ /ص/ ۱۲۰

سیف لودین کتابتون

له دې خبرو ښکاره معلومیږی چی له یروشلم انطاکیه ته څو پیغمبران راغله او په دوئ کې دیوه نوم اګبس او په عربی نسخه کې آغابوس وو او دا خبره دلمر په شیر روښانه دی چی دا پیښنه د عیسی علیه السلام څخه وروسته وه کله چی تر هغه وروسته بل نبی ثابت سو نو د عیسی علیه السلام خاتم النبیین بلل چی ستاسو دعوی ده بیخی غلط او بی بنسټه خبره ده

(۵) دانجیل متی په اووم باب ۱۵ درس کې د مسیح علیه السلام ښوونه او تنبیه داسی یاده سوی ده ، له دروغجنو پیغمبرانو خبرسی آه دالړۍ تر ډیر ځایه غځیدلی ده چی په هغه کې مسیح علیه السلام خبرورکړی دی چی ترماوروسته به ډیر دنبوت دعوی کونکي ښکاره کیږی او زما په نامه به دنبوت دعوی کوی یعنی دا به وایې چی زه مسیح موعودیم (لکه چی دقادیان یوبزګروایې چی زه مسیح موعودیم) تاسو په دوئ ښه خبرسی دوئ په پټه کې شیرونکی شرمښان دی مسیح علیه السلام په دې تعلیم کې داقیدا یښي دی چی ترماوروسته به دروغجن دنبوت دعوی کونکی راځی تاسو ځیرسی هسی نه چی تیرموباسی داسی یې نه دی فرمایلی چی ترماوروسته به نبی نه راځی بلکې داسی یې ویلی دی چی دنبوت ددعوه کونکوازموینه اخلی دربښتینوتصدیق کوی او ددروغجنوتکذیب کوی او همدارنګه دیوحنادلومړی خط په څلورم باب کې راغلی دی : اې عزیزانو دهریوه روح یقین مه کوئ بلکې دروحونوامتحان اخلی چی هغه دالله ﷻ له لوری دی او که نه ځکه ډیردروغجن پیغمبران په دنیا کې پیداسوی دی آه خلاصه دخبری داسوه چی په خپله دنصاری وو ددې آیاتو څخه داخبره ښکاره سوه چی عیسی علیه السلام خاتم النبیین نه دی بلکې دراتلونکی نبی علیه السلام زیری یې ورکړی دی او لارښوونه یې کړی ده چی تاسو امتحان اخلی

څلورمه خبره !

نصاری وایې چی داسماعیل علیه السلام مورمبارکه مینځه وه له دې کبله بنی اسماعیل په شرافت او عزت کې له بنی اسرائیلو سره برابرنه دی ؟

ځواب :

دیهودوله معتبرروایتو څخه داثابت دی چی هاجره دمصردپاچالورفرعون لوروه مینځه نه وه دتورات یومعتبرمفسرشلوملو اسحق دکتاب پیدائش باب ۱۶ داول آیت په تفسیرکې لیکی (اَبَتْ یرعها یثاکتبْرا نسمَ شِنْعِثُوْا سارا امرتاب شتها بَنِّیْ شِفْحَةُ وَبَیْتَ زِهْ ویوْ کبیره ییت اخیراه) ژباړه : کله چی هغه فرعون دمصرپاچادساره کرامات ولیدل نووې ویل زمالورددې په کورکې دمینځي په صفت سره اوسیدل تردې غوره دې چی په بل کورکې ملکه وی (۱) له دې معلومه سوه چی هاجره په اصل کې مینځه نه وه بلکې دمصردپاچالوروه

(۱) روض القرآن جلد ۲ /ص /۴۱ تألیف سید سلیمان ندوی او قصص القرآن تألیف حفظ الرحمن سیوهاروی)

سیف لودین کتابتون

پاچا هغه دساره دخدمت لپاره ورکړې وه باچا چې کله دساره کرامات ولیدل نوددې یقین راغلی چې ساره اوددې خاوند ابراهیم علیه السلام دالله ﷻ غوره بندګان دي له همدې کبله یې دساره ډیر درناوی اوعزت وکړ حتی چې خپله لوریې ابراهیم علیه السلام ته په نکاح ورکړه ددې لپاره چې دهغه وخت درواج اودود برابردویمه ښځه داولې ښځې خدمت وکړي ..

دویم ځواب :

یوائې مینځه کیدل عیب نه دی یوسف علیه السلام مریئ جوړسو اوبیاوپلورل سو اوپه ځانګړې ډول په تورات کې دالیکل سوي دي ، یوعهداسماعیلي دی اوبل عهداسحاقي اوالله تعالی د دواړوپه باره کې له ابراهیم علیه السلام سره دبرکت ورکولوژمنه کړې ده اوابراهیم علیه السلام سره یې داسماعیل علیه السلام په حق کې داولادودبرکت اودلوی امت ژمنه دکتاب تکوین اوباب دریم دکتاب الاعمال څخه ییخي روښانه معلومیږي چې دبني اسماعیلوڅخه به یولوی نبي ښکاره کیږي نودالله دبرکت ژمنه نه ذکرکول اووهمي اوخیالي تورونه له ژبې وتل عقلاً اونقلاً عییجن کاردی چې دوئ یې کوي نصاری ووته په کاردي چې درومیولوس اورومس اواغسطس زامنوته وګوري اووشرمیږي اوبیادیهودوداوریاء دښځې حال کوم چې داجداوومسیح په بیان کې کوي ودې ته هم لږوګوري نوله پښیمانتیا به سرپورته نه کړي ..

حاصل دخبرې داراووتل : چې هاجره دمصردپاچالوروه پاچاچې کله دساره بزرګي ولیده دهغې دخدمت لپاره یې هاجره ورکړه اودهغه وخت درواج اودودهم داووچې امیرانوته به چې چا لونې ورکولې هغه به دخدمت کونکي په مرتبه کې وې په دې وجه په صحیح بخاری کې دالفظ راغلی دی (فاخدمهاهاجره) یعنی ساره ته یې هاجره دخدمت لپاره ورکړه نصاراوو له خادمې څخه دمینځې ترجمه وکړه داسراسربې انصافي ده

دحیرانتیائځای دادی چې دیهودواونصاری علماء هغه پیغمبران چې دمسیح علیه السلام دنیکه ګانوپه سلسله کې راځي معاذالله په شرک اوبت پرستی اوزناکاری اوشراب خوری کې ککړګڼي اوداکارونه دمنلووړبولي خوداسماعیل علیه السلام مورمبارکه هاجره باندې دخدمت کونکې لفظ دطعن اوبدي سبب بولي ..

بیرته خپلې خبرې ته راګرزو اوس موږدتیروسویوپیغمبرانوله زرګونوورانده وینوڅخه یوائې یوڅوخبرونه تاسوته دنمونې په ډول له تورات اوانجیل وړاندې کوو که موتفصیل په کاروي نوازالة الاوهام فارسي اواظهارالحق عربي چې دواړه دمولانارحمت الله کیرانوي بانی مدرسه صولتیه مکه معظمه قدس الله سره تصنیف دي هغو ته رجوع وکړي

سیف لودین کتابتون

لومړئ بشارت (زیرې) دتورات سفراستثناء باب ۱۸ آیت ۱۸)

(۱۸) آیت : الله ماته ویلی دی چی دوئ څه ویلی دی نو ښه یې ویلی دی زه به ددوئ لپاره ددوئ په ورونو کې ستاپه څیر نبی پیدا کوم او خپل کلام به دهغه په مخ باندی نازلوم او څه چی هغه ته وایم هغه ټول به دوئ ته وایې ..

(۱۹) آیت : اوداسی به کیږی چی څوک زماخبری کومی چی زما دنامه په اخیستلو سره بیانوی او دوئ یې نه اوری نوزه به دهغو حساب له دوئ اخلم

(۲۰) مگر هغه نبی چی هغه داسی بی ادبی وکړی چی یوه خبره زما په نامه وکړی او مانه وی کړی اودئ یې زما په نامه سره وکوی دنورو معبودانو په نامه سره یې کوی نو هغه نبی دې ووژل سی

(۲۱) او که ته په خپل زړه کې ووایې چی زه به څنگه داوپیژنم چی داخبره دالله وینانه ده نو پوه سه چی کله نبی دالله ﷻ په نامه سره څه ووایې او هغه چی ده ویلی دی واقع نه سی نو هغه خبره الله ﷻ نه ده ویلی ، انتهی .

مسلمانان وایې چی دتورات دازیری خاص دسیدنا محمد صلی الله علیه وسلم لپاره دی او دیهودو داخیال دی چی دازیری دیوشع علیه السلام لپاره دی او نصاری وایې چی دعیسی علیه السلام څخه پرته بل هیڅوک نه سی کیدای ځکه دازیری دهغه نبی دښکاره کیدو دی کوم چی دموسی علیه السلام په شان وی اودبنی اسرائیلو څخه وی بلکې دبنی اسرائیلوله ورونو بنی اسماعیلو څخه نه وی اوبیا په دې زیری کې دهغه راتلونکي نبی دصفاتو یادونه سوی ده په دې وجه مسلمانان وایې چی داخاص درسول الله صلی الله علیه وسلم دراتلو زیری دی په یوه نه بلکې په ډیروو جهواو دلائلو سره به موږ داثابته کړو ان شاء الله العزیز :

لومړی دلیل دادې چی له دې زیری څخه نبی کریم ﷺ مراددی !

په دې زیری کې دایادونه سوی ده چی زه ددوئ یعنی دبنی اسرائیلوله ورونو څخه ستاپه شان یونبی رالیږم له دې ښکاره کیږی چی دانبی به له نبی اسرائیلو څخه نه وی ځکه داوینایوه یادوونتوته نه وه بلکې دبنی اسرائیلو ټول قوم او قبیلوته وه ددې وینامخاطب به ټول قوم دبنی اسرائیلووی او مطلب به یې داسی وی چی دبنی اسرائیلوله ورونو څخه ستاپه څیر یونبی رالیږم چی داددې خبری ښکاره دلیل دی چی دانبی به له بنی اسرائیلو څخه نه وی ځکه که دانبی له بنی اسرئیلو څخه وای نوداسی به یې ویل چی له تاسو بنی اسرائیلو څخه به یونبی رالیږم لکه چی الله تعالی په قرآن کریم فرمایې :

(لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ أَنْفُسِهِمْ (۱۶۴ آیت سورة آل عمران) اوداسی به یې نه فرمایل چی ستاسوله ورونو څخه به هغه نبی رالیږل کیږی لکه چی الله تعالی بنی

سیف لودین کتابتون

اسرائيلوته خطاب کوی ﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنبِيَاءَ﴾(۲۰آيت سورة المائدة)

لنډه داچې موسی ؑ ټولوبنی اسرائيلوته پرته له کوم تخصيص څخه داوينا وکړه چې هغه نبی راتلونکی به ستاسوله ورڼوڅخه وی

بنی اسماعيل اوبنی اسرائيل سره ورڼه دی نصاری وايې چې دبنی اسرائيل له ورڼوڅخه په خپله بنی اسرائيل مراددی خوداييخی غلط اوبی اساسه اودعقل خلاف خبره ده اودټولی دنياله لغت څخه خلاف دی چې دبنی اسرائيلوله ورڼوڅخه دی بنی اسرائيل په خپله مرادسی داخبره داسی مثال لری لکه ته چې ووايې دزيد ورڼه رغلی وو نوزيدبه په هغه ورڼوکې نه داخليږی بلکې له ورڼوبه بيل وی ځکه مضاف دټولوعقلاء په اتفاق سره له مضاف اليه وتلی وی اودغه رنګه يوسړی اودده واولادوته په ټوله دنياکې په هيڅ محاوره کې داسی نه دی ويل سوی چې دادده ورڼه دی نوله بنی اسرائيلوله ورڼوڅخه بنی اسرائيل اخيستل سراسرناپوهی اوجهالت دی په خبروکې خوداسی ويل کيږی چې زيددبنوتميم له ورڼوڅخه دی اوهودؑ دعادقوم له ورڼوڅخه دی اوصالح ؑ دثموديانوله ورڼوڅخه دی يعنی دئ هم دهغه قوم يوتن دی مګر داسی نه سی ويل کيدای چې دعادقوم دعاددقوم ورڼه دی اوثمود دثمودوورڼه دی اوبنوتميم دبنوتميم ورڼه دی اوبنوهاشم دبنوهاشم ورڼه دی دغه رنګه دلته وايوچې بنی اسرائيل دبنی اسرائيلوورڼه دی دابنکاره ناپوهی اوجهالت دی اوداويناچې دبنی اسرائيلوله ورڼوڅخه دهغه نسل اواولادمرداد‌ی داهم بی پايه کم عقلی اوناپوهی ده داسی مثال لری لکه ته چې له يوسړی بحث کوی اودده وزامنوته دده دورڼونسبت وکوی

اوبل داچې دکتاب پيدائش شپاړسم باب ديارلسم درس کې دبنی اسرائيلوپه مقابله کې داسماعيل اودهغه داولادوداسی يادونه سوی ده ۱۳ هغه به دټولوورڼوپه مخکې استوګنه غوره کوی آه اودتورات دسفرپيدائش پنځه ويشتم باب ۱۸ درس کې راغلی دی ،اسماعيل ؑ دخپلوټولو ورڼوپه مخکی مړسو آه

په دې دواړوځايوکې داسماعيل ؑ له ورڼوڅخه په اتفاق سره بنی عيص اوبنی اسرائيل مراددی اودا امر په اتفاق ديهودواونصاری وو ثابت دی چې دبنی عيص له کورنۍ څخه هيڅوک هم دنبوت خاوندنه دی سوی اوداخبره هم دواړوډلومنلی ده چې دابراهيم ؑ کوم اولاددقطوره څخه سوی دی له هغوئ سره الله تعالی دنبوت اوبرکت کومه ژمنه نه ده کړی مګر داسماعيل ؑ په حق کې يې دبرکت ژمنه کړی ده .

سیف لودین کتابتون

داهل کتاب علماؤ په دې زیرې کې یو لفظ زیات کړی دی هغه دادی چې (الله ﷻ به ستاسو په مینځ کې) ستاسو له ورونو څخه ستا په شان پیغمبر پیدا کوی دا زیادت په اتلسم باب ۱۵ درس کې ترسترګو کیږی دا زیادت یې د دې لپاره کړی دی چې دا زیرې په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې صادق نه سی نو ستاسو لپاره لږ فکر په کار دی چې دا لفظ چې (ستاسو په مینځ کې) وروسته تاسو ورزیات کړی دی موږ به یې ستاسو له منل سوی کتابه دلیل درته وړاندې کوو په تورات سفر استثناء باب ۱۸ درس ۱۸ کې د الله تعالی له لوری موسی علیه السلام ته په ویناکې الفاظ داسې دي،

(۱۸) زه به د دوئ لپاره د دوئ له ورونو څخه ستا په شان یو نبی پیدا کوم آه

په دې ځای کې دا توری (ستاسو په مینځ کې) نه دی راغلی او عجیبه خبره ده چې د کتاب الاعمال باب ۳ آیت ۲۲ کې د دې خبری یادونه سوی ده مګر دا ټکی چې (ستاسو په مینځ کې) نه دی راوړل سوی

اوبل داچې د عیسی علیه السلام حواریینو چې هر ځای د هغه کلام رانقل کړی دی په هغه کې داجمله یعنی (ستاسو په مینځ کې) کلمه هیچیری هم نه ده ذکر کړی له دی معلومه سوه چې داجمله وروسته تاسو ورزیاته کړی ده او که بالفرض والتقدیر د لږ وخت لپاره داومنل سی چې داجمله خو الحاقیه نسی کیدای نو د دې جملی مراد به داوی چې ستاسو د له مینځ څخه د خدای ﷻ د عبادت کونکوله نسل څخه مطلب به داوی چې د ابراهیم علیه السلام له نسل څخه به وی **خلاصه دخبری دادی** چې موسی علیه السلام د بنی اسرائیلو و ولسو ۱۲ ډلو ته داوینا وکړه چې د دوئ د ورونو له منیځ به یو نبی رالیږل کیږی د دې خبری ښکاره دلیل دی چې هغه نبی به له بنی اسرائیلو څخه نه وی ځکه که یې د بنی اسرائیلو د نبی خبرور کولای نو داسې به یې ورته ویلی وو چې له تاسو یا ستاسو له اولادو به یو نبی پیدا کیږی په داسې صورت کې د ورونو لفظ زیاتول بی معنی او مهمل کیږی د ورونو لفظ ښکاره د دې دلیل دی چې هغه راتلونکی نبی به له دوئ سره نسلی اړیکی نه لری یعنی هغه راتلونکي نبی به د بنی اسرائیلو څخه نه بلکې له بنی اسماعیلو څخه وی

اوداهم ثابت دی چې یوشع او عیسی علیه السلام دواړه له بنی اسرائیلو څخه دی د بنی اسرائیلو له ورونو یعنی بنی اسماعیلو څخه نه دی نو ځکه دوئ دواړه د دې خبر مصداق نه دی د دې زیری مصداق یوازې هغه نبی کیدای سی چې د بنی اسرائیلو له ورونو بنی اسماعیلو څخه وی

دویم داچې په دې زیری کې ویل سوی دی چې ستا په شان به یو نبی پیدا کوم او ښکاره خبره ده چې د موسی علیه السلام په شان نه یوشع علیه السلام دی او نه موسی علیه السلام ځکه دوئ دواړه له بنی

سیف لودین کتابتون

اسرائیلو څخه دی او په تورات استثناء باب څلوردیرشم کې راغلی دی چې په بنی اسرائیلو کې د موسی ؑ په شان هیڅ نبی نه دی رالیږل سوی چې له هغه سره الله ﷻ مخامخ خبری کړی وی انتهی

او بل دا چې یوشع ؑ د موسی ؑ شاګرد او تابع وو متبوع له تابع سره یوشان نه وی او بل دا چې یوشع ؑ په هغه وخت کې موجود وو او په دې زیری کې ویل سوی دی چې یو نبی به پیدا کوم له دې ښکاره معلومیږی چې هغه نبی به په راتلونکی وخت کې وی او یوشع ؑ د موسی ؑ په وخت کې نبی سوی وو نو هغه دد ې زیری چې په دراتلونکي نبی په هکله ورکړل سوی دی څنګه مصداق کیدای سی

او بل دا چې عیسی ؑ هم د موسی ؑ په شا ن نه دی ځکه د نصاری په عقیده خو هغه معاذالله د خدای زوی دی یا په خپله خدای دی او موسی ؑ نه د الله ﷻ زوی او نه په خپله خدای دی بلکې د الله ﷻ بنده دی نو بنده خو د خدای له زوی یا په خپله له خدای سره نه سی یوشان کیدلای

او بل دا چې عیسی ؑ د نصاري په عقیده وژل سوی او په دار سوی دی او د خپل امت لپاره کفاره سوی دی او موسی ؑ خو نه وژل سوی او نه په دار سوی او نه کفاره سوی دی

او بل دا چې د عیسی ؑ په شریعت کې حدودا و قصاص او زجز او تعزیرات او غسل او طهارت حکمونه نه دی بیان سوی داسی نه دی لکه د موسی ؑ شریعت هغه پردې ټولو مشتمل وو مګر د نبی کریم ﷺ او موسی ؑ مشابهت سره شته لکه څنګه چې موسی ؑ د ځانګړی شریعت خاوندوو د غه رنګه زموږ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم هم د مستقل شریعت او احکامو او په کامله طریقه حدودا و تعزیرات جهادا و قصاص د حلال او حرام حکمونو ته شامل دی او جامع دی وپټو او ښکاره احکامو ټولو ته شامل دی لکه څنګه چې موسی ؑ بنی اسرائیل د فرعون له منګولو وژغورل او عزت یې ورکي تردې په ډیرو درجو لوړ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم عرب د روم او فارس له منګولو وژغورل او د الله ﷻ کلمه یې وروښودله او د قیصر او کسری د خزانو کلیانی یې دوئ ته په لاس ورکړی لکه څنګه چې موسی ؑ نکاح کړی ده دغه رنګه نبی کریم ﷺ هم د پخوانو پیغمبرانو د سنت برابر نکاح کړی ده او ودې مشابهت ته قرآن کریم هم اشاره کړی لکه چې الله تعالی فرمايې ﴿إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا﴾ ۱۵ آیت سورة المزمل)

ژباړه: موږ تاسو ته یو رسول رالیږل دی په تاسو باندی شاهدی کونکي لکه څنګه چې موږ فرعون ته یو رسول رالیږلی وو.

سیف لودین کتابتون

اوبل داچې عيسى ؑ اويوشع ؑ هيڅ وخت دموسى ؑ دمشابهت دعوه نه ده کړې اوکه داوويل سى چې ددې مشابهت څخه مراددادى چې هغه راتلونکى نبى به دموسى ؑ په شان له بنى اسرائيلوڅخه وى نوپه دې صورت کې دعيسى ؑ اويوشع ؑ تخصيص ولى کيږى دله موسى ؑ وروسته خوپه بنى اسرائيلوکې په زرهاووپيغمبران پيداسوى دى په دې لحاظ سره دبنى اسرائيلو هرنبى ددې زيرى مصداق جوړيداى سى اوکه دعيسى ؑ اويوشع ؑ لپاره په يوه شان مشابهت ومنل سى نودموسى ؑ مشابهت له نبى کريم ﷺ تردوئ ډير دى

۳ **دريم** داچې په دې زيرى کې داهم ويل سوى دى چې زه به خپل کلام دده په مخ کې راوړم آه يعنى په دې نبى باندى دتورات اوزبورپه شان پرتختوليکل سوى کتاب نه نازليږى بلکې ملائکه به دالله ﷻ وحى راوړى اونازلوى به يې اوهغه نبى به امى وى دملائکى څخه به يې اورى اودالله ﷻ کلام به يادوى اودخپلى خولى به يې امت ته بيانوى اوښکاره خبره دى چې داخبره پرته له نبى امى صلى الله عليه وسلم بل په هيچاباندى نه صادقيږى لکه چې الله تعالى فرمايې ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ﴾(۳)﴿إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ﴾ ۴آيت سورة النجم)

نبى کريم ﷺ له خپله ځانه هيڅ خبره نه کوى مگر هغه وحى وى چې دالله ﷻ له لورى راليږل کيږى

۴ **څلورم** : داچې په دې زيرى کې ددې خبرى هم تصريح سوى ده چې څوک ددى نبى حکم نه منى هغه ته سزاورکوم اوښکاره خبره ده چې له دې سزاڅخه داخرت سزانه ده مرادځکه دهرنبى ونه منونکي ته داخرت سزاورکول کيږى بلکې له دې څخه دنيوى سزايعنى جهاداوقتال اوحدوداوقصاص جارى کول مراددى اوداخبره نه عيسى ؑ ته ورکړل سوى ده اونه يوشع ؑ ته خوخاتم الانبياء سيدنامحمدصلى الله عليه وسلم ته په پوره معنى حاصله سوى ده نوځکه يوازې نبى کريم ﷺ ددې زيرى مصداق کيداى سى

پنځم داچې په دې زيرى کې ددې تصريح سوى ده چې که هغه نبى العياذبالله دروغ جوړکي اوالله ﷻ ته غلطه خبره منسوبه کړى نوهغه نبى به وژل کيږى اوښکاره ده چې زموږنبى اکرم صلى الله عليه وسلم دنبوت له دعوى وروسته نه دى وژل سوى دښمنانوهررنگه کوشش اوچلونه وکړل مگر ټول ناکام سو لکه چې الله تعالى فرمايې :

﴿وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ﴾

(۳۰آيت سورة الانفال)

ژباړه : اې محمد ﷺ دالله ﷻ هغه نعمت يادکړه کله چې کافرانوستاسره چل کوى چې تابندى کې يادى قتل کى يادى وباسى هغوئ خپل چلونه جوړل اوالله خپل تدبيرکوى اوالله ﷻ غوره دتدبيرکونکودى .

سيف لودين كتابتون

او دالله ﷻ ددې ژمنې چې فرمايي: ﴿وَاللهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ﴾ ۶۷آيت سورة المائدة) الله ﷻ به تاله خلکو خوندي ساتي هغه بيخي خوندي اوپه امان پاته سو اوددې پرځاى چې کومه پيښه منځ ته راسي دنبي کريم ﷺ شان اودبدبه به پورته کړل سوه نوکه نبي کريم ﷺ هغه راتلونکى نبي نه واى نوهرومروبه وژل سوى واى دنصارى دعقيدې برابر عيسى ؑ وژل سوى اوپه دارسوى دى نوکه مسيح بن مريم ؑ ددې زيرى مصداق وګرزوى نودنصارى وو عياذابالله دعقيدې برابردهغه دروغجن کيدل لازميږى اوپه قرآن کريم کې هم ودې ته اشاره سوى ده لکه چې الله تعالى فرمايي

﴿وَلَوْلاَ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئاً قَلِيلاً﴾ (۷۴) ﴿إِذاً لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لاَ تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيراً﴾ (۷۵آيت سورة الاسراء) ﴿وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ﴾ (۴۴) ﴿لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ﴾ (۴۵) ﴿ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ﴾ (۴۶آيت سورة الحاقة) ژباړه: که موږستاپښبني نه واى ټينګى کړى نوته نژدې وې چې هغوئ ته ډيرلږ مائل سوى وې په دغه وخت کې به موږتاته دژوندا ومرګ دوچنده عذاب څکلى وو بيابه تازموږ په مقابله کې هيڅ مرستندوئ نه موندلى که محمد ﷺ په موږباندې څه دروغ جوړکړى واى نوموږبه دهغه ښي لاس نيولى وو اودهغه ښارګ به موپريکړى واى

ضروري پاملرنه!

دتورات په شلم درس کې ويل سوى دى چې هغه نبي که په ماباندې دروغ وتړى نوقتل کيږى به.له دې دامعلومه سوه چې نه وژل کيدل مطلقادرښتيني کيدودليل نه دى که داسى شي نو دهغه پيغمبرانوربنتينوالي چې ددښمنانوپه لاس وژل سوى دى معاذالله هغه به دروغجن ثابت سى اوپيغمبران له شکه خلاص يوشميروژل سوى هم دى لکه چې الله تعالى فرمايي: (وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ (۶۱آيت سورة البقرة) خصوصا دنصارى د فاسدې عقيدې پربنياد باندې دعيسى ؑ دصداقت ثابتول ډير ستونزمن کيږى بلکې خاص د هغه نبي چې دراتلووعده يې سوى ده نه وژل کيدل دهغه درښتيني والى علامه دى لکه چې دتورات ددې عبارت څخه ښکاره کيږى :

(۲۰: هغه نبي چې داسى بې ادبي وکړى هغه به وژل کيږى آه

په دواړوجملو کې دهغه ضمير خاص هغه نبي راتلونکي ته راجع دى که داحکم دمطلق نبي په حق کې وى نومعاذالله زکرياا ويحى ؑ دروغجن ګرزى اودنصارى دعقيدې په بناء باندې عيسى ؑ وژل سوى اوپه دارسوى دى نوهغه معاذالله دروغجن ګرزى نوله دې معلومه سوه چې داخبره خاص دهغه نبي په هکله چې راتلونکي دى هغه نبي چې زيرى يې ورکړل سوى دى که داخبردمطلق نبي په حق کې ومنل سى نويهود چې عيسى ؑ

سیف لودین کتابتون

نه منی دوئ ته دخپل کفرلوی دلیل په لاس ورځي .
شپږم : داچې په دې زیری کې ددې هم یادونه سوی ده چې دهغه راتلونکي نبی درښتینولی نښه داده چې دهغه وینابه پوره کیږی یعنی دهغه ټولی وړاندوینی به رښتیاوی نوالحمدلله ثم الحمدلله چې زموږد رښتینی پیغمبر ﷺ یوه وړاندوینه ترننه پوری یوه ذره هم غلطه نه ده ثابت سوی اوموږداپوره دعوه کولای سواوپه اعلانیه داویلای سو چې ترقیامته پوری هم یوکین کونکي ددې رښتینی پیغمبر ﷺ یوه وړاندوینه غلط نسی ثابتولای اوداصفت خوپه رسول الله صلی الله علیه وسلم کې داسی ښکاره ووچې دهغه دښمنانوهم پرته دامین اوصادق له ویلوبله لارنه درلودله .
که څوک یې منی اوکه یې نه منی : خودامت ګنهګاردنبی کریم ﷺ په صادق اومصدوق کیدوکې تررونښانه ورځي اوراختلی لمرهم په ډیرودرجولوړیقین لری اوپه هغه الله وحده لاشریک له باندی قسم کوی الله ﷻ اوداالله ﷻ ملائکه وې شاهد ګرزوی اودزړه له کومی اوسپیڅلی عقیده داتصدیق اواقرارکوی چې بیشکه اوشبه رسول الله صلی الله علیه وسلم اصدق الاولین والاخرین دی صلی الله علیه وسلم(اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْنَا عَلٰى ذٰلِكَ آمِيْن)
اووم: داچې دکتاب الاعمال باب ددریم باب اولسم ۱۷ آیت له لوستلوڅخه ښکاره معلومیږی چې هغه راتلونکي نبی له عیسی ﷺ اوایلیاء ﷺ بلکې له ټولوپیغمبرانو علیهم السلام پرته بل نبی دی هغه عبارت دادی :
اوس اې ورونوزه پوهیږم چې تاسوداپه ناپوهی سره وکړه چې ستاسوسردارانو دکوموخبرو چې الله تعالی دخپلوټولوپیغمبرانوپه ژبه مخکی خبرورکړی وو چې مسیح به تکلیف پورته کوی ، نوهغه یې پوره کړ .
۱۹. نوتوبه وکاږی اومتوجه سی چې ستاسوګناهونه معاف سی ددې لپاره چې الله تعالی دتازګۍ ورځ راولی
۲۰ : اویسوع مسیح بیرته راولیږی چې دهغه آوازستاسوپه مینځ کې مخکې لاسوی دی
۲۱ : ضروری ده چې اسمان دهغه لپاره سی ترهغه وخت پوری چې دټولوشیانوچې دهغه یادونه الله تعالی ددې ټولوپاکوپیغمبرانوپه ژبه شروع کړی دی خپل حالت ته راولی
۲۲ : ځکه موسی ﷺ پلرنونیکونوته ویلی دی چې الله تعالی هغه چې ستاسوخدای دی ستاسوله ورونوڅخه به ستاسولپاره یونبی ستاسوپه شان رالیږی څه چې هغه وایې هغه ټول واوری
۲۳ : اوداسی به وی چې هرڅوک چې ددې نبی خبره ونه منی هغه به له قوم ویستل کیږی
۲۴ :بلکې دټولونبیانودسموائیل څخه واخله بیاتروروستنیوپوری چې څومره خبری کړی دی ددې دواړو خبرېې ورکړی دی

سیف لودین کتابتون

۲۵ : تاسو دپیغمبرانو اولادونه یاست هغه ژمنه کومه چې الله تعالی ستاسو له پلرواونیکو نوسره کړی ده کله چې ابراهام ته وویل چې ستاله اولادو به د دنیا ټولی کورنۍ برکت مومی آه

په دې عبارت کې اول د مسیح علیه السلام د زیری او د هغه د هغه تکلیف کوم چې هغه ته د دوئ په ګمان دیهودو لعنهم الله څخه پیښ سوی دی یادونه سوی ده چې دهغه په اړه موسی علیه السلام بنی اسرائیلو ته ویلی وه چې رب العالمین به ستاسو له ورڼو یعنی بنی اسماعیلو څخه یو نبی رالیږی اوله موسی علیه السلام څخه پرته نورو ټولو پیغمبرانو دراتلونکی نبی دراتلو خبر ورکړی دی اوترڅو چې داژمنه نه وی پوره سوی ترهغه وخت به دا ځمکه او اسمان خامخا پاته وی او په هغه وخت کې به دالله ﷻ هغه ژمنه اولوظ پوره کیږی کوم چې هغه له ابراهیم علیه السلام سره کړی دی چې ستاله اولادو به د دنیا ټولی کورنۍ برکت پیداکوی

لنډه دا چې د مسیح علیه السلام په زیری کې داخبره (نوپوره یې کړ) په ۱۷ آیت کې اود کوم نبی چې موسی علیه السلام او ابراهیم علیه السلام او ټولو پیغمبرانو زیری ورکړی دی دهغه انتظار په دې الفاظو بیانول چې ضروری ده چې اسمان دهغه لپاره ترهغه وخت پاته سی چې ترڅو پوری د ټولو شیانو چې د کوم یادونه الله تعالی دخپلو پیغمبرانو په ژبه سره کړی ده خپل حالت ته راشی آه

له دې خبرو ښکاره معلومیږی چې دانبی اورسول چې دراتلو انتظاریې کیږی دهغه ټولو پیغمبرانو څخه بیل اوجلادی کوم چې دموسی علیه السلام څخه واخله بیاترعیسی علیه السلام پوری تیرسوی دی نوځکه ددې زیری مصداق دموسی علیه السلام له وخت بیادعیسی علیه السلام تروخت پوری هیڅ نبی نسی کیدای نو یوشع علیه السلام او مسیح بن مریم علیه السلام ددې زیری مصداق ګرزول څنګه صحی کیدای سی

اتم : داچې دانجیل یوحناباب اول آیت نولسم ۱۹ کې راغلی دی :

: کله چې یهودیانو دیروشلم څه کاهنان اولاویان ولیږل چې له هغه څخه پوښتنه وکړی چې ته څوک یې او هغه اقراوکړاوانکاریې ونه کړبلکې اقراریې وکړ چې زه مسیح نه یم نوبیادوئ له هغه څخه پوښتنه وکړه چې ته بل څوک یې آیاته الیاء یې هغه وویل زه نه یم نوآیاته هغه نبی یې هغه ځواب ورکی نه زه هغه نبی یم آه

له دې وینا ښکاره کیږی چې دوئ د مسیح علیه السلام او ایلیاء علیه السلام څخه پرته هم دیوه نبی په انتظار وو او هغه راتلونکي نبی د دوئ په نزد دومره مشهوراومعلوم وو چې دهغه دنامه یادولو هم د مسیح علیه السلام او ایلیاء علیه السلام په شان اړتیا نه وه بلکې یوائې دااشاره کافی وبلله چې آیاته هغه نبی یې دهغه نبی لفظ اشاره دهغه لپاره کافی وه

نوکه مسیح علیه السلام ددې زیری مصداق وی نو بیا دوئ دچا په انتظار وو هغه نبی چې دکوم چې

[illegible] اهل کتاب په دنبي کريم ﷺ

سیف لودین کتابتون

لپاره دهغه نبی ټکی کاروی له همدې کبله همیشه مسلمانان دنبی کریم ﷺ لپاره
دآنحضرت ﷺ ټکی کاروی چی بعینه دهغه نبی ترجمه یې دی
نهم داچی دانجیل یوحنااووم باب څلویښتم آیت څخه هم همدامعلومیږی چی هغه
راتلونکئ نبی له عیسی علیه السلام پرته بل نبی دی نوکه له (هغه نبی) څخه رسول الله ﷺ مرادنه
وی نوبیادوئ دچاپه انتظاروو
لسم : درسو ل الله صلی الله علیه وسلم دنبوت په وخت کې دیهودواونصاری ډیر علماؤ
داخبره ومنله چی نبی کریم ﷺ هغه حق اوربښتینی نبی دی چی دده زیر موسی علیه السلام ورکړی
دی اونبی کریم ﷺ ددې زیری مصداق دی تر منلووروسته ډیرواسلام راوړی لکه مخیرق
یهودی اوضغاتررومی عیاسی اوپه سلګونونورو هم اقراروکی مګر اسلام یې نه راوړی
دکین اوحسداویامرتبی له وجی لکه هرقل دروم پاچا، اوعبدالله بن صبا یهودی اوداسی
نور دوئ داخبره ومنله چی نبی کریم ﷺ هغه نبی دی چی موسی علیه السلام اوعیسی علیه السلام یې
زیری ورکړی دی مګردوئ اسلام نه راوړی
دویم : په تورات باب اوولسم ۱۷ آیت ۲۰ کتاب پیدائش کې دنبی کریم ﷺ دراتلوزیری
داسماعیل علیه السلام په حق کې ماستاخبره واوریدله ګوره زه به هغه ته برکت ورکوم اوهغه به
بختورکوم اوهغه به ډیرزیاتوم اودده به دوولس مشران پیداکیږی اوزه به له دوئ څخه
یولوی قوم جوړوم ،
اودهمدې باب په اتم آیت کې راغلی دی : اوزه به تاته اوترتاوروسته ستانسل ته دټول
کنعان هیوادپه کوم کې چی ته مسافریې ورکوم آه
اودهمدې کتاب په شپاړسم ۱۶ باب یوولسم ۱۱ آیت کې راغلی دی :
دالله ﷻ ملکې هاجری ته وویل چی ته حامله یې اوستابه یوزوی پیداکیږی دهغه نوم
اسماعیل کیږده الله ﷻ ستاتکلیف واوریدی هغه به وحشی انسان وی دهغه لاس به
ترټولولوړوی اوله ټولولاسوبه دهغه لاس خلاف وی اوهغه به دټولووروڼوپه مخکې
استوګنه کوی انتهی .
اوپه پنځه ویشتم باب ۱۱ آیت کې راغلی دی :
. ستازوی اسحاق علیه السلام ته الله ﷻ برکت ورکړی دی آنتهی .
حاصل دخبری دادی چی الله تعالی له ابراهیم علیه السلام سره داسحاق علیه السلام اواسماعیل علیه السلام په
هکله وعده کړی ده چی دوئ ته به برکت ورکوم نوهغه رنګه وسوچی لومړی خوداسحاق
علیه السلام اولادوبرکت حاصل کی اوډیرکلونه دنبوت اورسالت سلسله دده په اولادوکې چلیده
ترعیسی علیه السلام پوری داسحاق علیه السلام په اولادوکې انبیاء اورسولان علیهم السلام راتلل تردې
وعدې وروسته ددویمی وعدی وخت راغلی نودنبوت اورسالت عزت په یوه ځل له بنی
اسرائیلو څخه بنی اسماعیلوته نقل سو اودابراهیم علیه السلام ددعاء قبلیدل دفاران له غرو څخه
اودسینا او سعیدرڼایه فاران باندی ښکاره سوه ذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَّشَاءُ وَاللهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ)

سیف لودین کتابتون

دتورات سفرپیدائش باب یویشتم ۲۱ څخه معلومیږی چی ابراهیم علیه السلام هاجره او اسماعیل علیه السلام حجازته راوستل اودفاران په میدان کې مکې مکرمې ته نږدې پریښودل او ابراهیم علیه السلام ځنی ولاړی . دساره له مرګ وروسته ابراهیم علیه السلام دفاران میدان ته بیرته تشریف راوړی په دې وخت کې اسماعیل علیه السلام ځوان سوی وو دواړوپه یوه ځای دالله جل جلاله دکعبې آبادی پیل کړه لکه چی الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي ﴿وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ (۱۲۷) ﴿رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ﴾ (۱۲۸آیت سورة البقرة)

ژباړه : هغه وخت یاد کړه کله چی ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام دبیت الله بنیادونه پورته کول او دادعاء یې له الله جل جلاله څخه وغوښتله چی اې رب جل جلاله دا خذمت ته له موږ څخه قبول کړې ته بیشکه ښه اوریدونکي اوپوه یې او اې رب جل جلاله موږ او زموږ اولادونه څخه یوه ټولی ستا امر منونکي جوړکې

درنولوستونکوتاسوفکروکوی چی په دې ځای کې دچااولادمراددی ښکاره خبره ده چی داسماعیل علیه السلام اولادونه مراددی کوم چی دفاران په میدان اوحرم الهی اودالله جل جلاله دکعبې په شاوخواکې اوسیدل اول ابراهیم علیه السلام دادعاء کړی ده ، رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ اودویمه یې دادعاء کړی دی ﴿رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنتَ العَزِيزُ الحَكِيمُ﴾ ۱۲۹آیت سورة البقرة)

ژباړه : اې رب جل جلاله دهاجره او اسماعیل علیه السلام په اولادوکې یوداسی رسول پیداکړه چی هغه ستا دکتاب تلاوت کوی اوخلکوته دکتاب اوحکمت ښوونه ورکوی اوهغوئ له کفراوشرک څخه پاک کړی بیشکه ته غالب اوحاکم ذات یې ..

الله تعالی لکه څنګه چی په قرآن کریم کې ددې دعاء ابراهیمی یادونه کړی ده دغه رنګه یې دادعاء قبوله کړی هم ده : ﴿هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ﴾ (۲آیت سورة الجمعة)

ژباړه : الله جل جلاله په امیانونالوستوکې له دوئ څخه یورسول ﷺ رالیږلی دی چی په دوئ باندی دالله جل جلاله آیتونه تلاوت کوی اودوئ پاکوی اودکتاب اوحکمت ښوونه ورکوی اوددوئ له ده څخه مخکې په ښکاره بی لاریو کې اخته وو

حاصل دخبری دادی چی لوستونکی دی په دې باندی غور وکوی چی داسماعیل علیه السلام په اولادوکې دنبی کریم ﷺ څخه ډیر ښوک دخیر او برکت خاوندوو اودکنعان ځمکه دچابه میراث کې راغله اودرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پرته ښوک دی چی دهغه لاس پرټولوباندی لوړسوی وی اودځمکې دټولوخزانو کلیانی دده په لاس کې ورکړل سوی وی اوله دولس سرداران څخه دوولس خلفاء مراددی لکه نبی کریم ﷺ چی فرمایلی دی (یدور رحی الاسلام الی اثنی عشرخلیفة کلهم من قریش) داسلام ژرنده به په دوولس خلیفه [illegible] له قریشو څخه وي

سيف لودين کتابتون

لويه فائده : الله ﷻ حکيم اوعليم په خپل پوره حکمت سره داسحق عليه السلام داولادوبرکت داسماعيل داولادوپربرکت په دې وجه مخته کړ چې داسماعيل عليه السلام په اولادوکې خاتم النبيين آخرى نبى سيدنامحمدصلى الله عليه وسلم پيداکيدونکي وو نوکه داسماعيل عليه السلام برکت مخ ته سوى واى نوبيابه داسحاق عليه السلام په اولادوکې هيڅ نبى نه وو ځکه ترخاتم الانبياء عليهم السلام وروسته بل نبى نسته هغه داسماعيل عليه السلام په اولادوکې وو

اوپه دې وجه چې داسحاق عليه السلام په اولادوکې به ډيرپيغمبران وى نوبنى اسرائيلوته ددې نعمت يادونه په دې الفاظوسره سوى ده ﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنبِيَاءَ﴾ (۲۰آيت سورة المائدة) په تاسوکې الله تعالى ډيرپيغمبران پيداکړى دى

اوابراهيم عليه السلام چې داسماعيل عليه السلام لپاره دعاء کړى ده داسى يې وفرمايل :

(رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ) يعنى اې الله ﷻ په دوئ کې له دوئ څخه يورسول راوليږى .
له دې څخه معلوميږى چې ابراهيم عليه السلام داسماعيل عليه السلام په اولادوکې يوائى دداسى رسول دراليږلودعاء کړى ده چې دهغه دراتلوڅخه وروسته دبل نبى اورسول ﷺ اړتياپاته نه سى ، په صيغه دمفردسره يې ويلى دى رَسُولًا اوپه صيغه دجمع رُسُلًا يې دعاء نه ده کړى

(وعن ابى العالية فى قوله تعالى ربناوابعث فيهم رسولامنهم يعنى امة محمدصلى الله عليه وسلم فقيل له قداستجيب لک وهوكائن فى آخر الزمان وكذاقال السدى وقتادة (تفسيرابن كثيرجلد۱/ص/۳۳۱)

ژباړه : له ابوالعاليه څخه روايت سوى دى چې کله ابراهيم عليه السلام دادعاء وکړه ، رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ ، نودالله ﷻ له لورى ورته وويل سو چې ستادعاء قبوله سوه داپيغمبر عليه السلام به په آخره زمانه کې وى اوسدى اوقتادة هم همداسى روايت کړى دى هوكائن فى اخرالزمان . څخه خاتم النبيين ﷺ مراددى اودرسول الله ﷺ داارشاد (انادعوة ابى ابراهيم عليه السلام) يعنى زه دخپل پلارابراهيم عليه السلام دعاء يم هم ودې ته اشاره دى،

په همدې وجه چې دابراهيم عليه السلام دادعاپه امت محمديه باندى ډيرلوى احسان دى د (اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ) څخه وروسته (وكَمَا صَلَّيْتَ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَعَلَىٰ آلِ إِبْرَاهِيمَ) ويل کيږى ددې احسان په شکرکې په امت محمدى باندى لازم سو .

اويا له دې وجهى ويل کيږى چې دټولوپيغمبرانوعليهم السلام څخه يوائى دابراهيم عليه السلام خاص کول دابراهيم عليه السلام ددعاء دقبليدواثردى ابراهيم عليه السلام داسى دعاء هم کړى وه :

﴿رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ (۸۳) وَاجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ﴾ ۸۴آيت سورة الشعراء) لکه څنګه چې الله ﷻ ابراهيم عليه السلام ته علم اوحکمت ورکړى وو په نيکوخلکوکې يې هم داخل کړاوپه آخرکې يعنى په دې آخرى امت کې د (كَمَا صَلَّيْتَ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ) په سبب دده دخيريادونه يې جارى کړه اوان شاءالله العزيزترقيامته پورى په دغه رنګه جارى وى .

سیف لودین کتابتون

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ

لکه څنګه چې ابراهیم علیه السلام ته دبرکت ورکولو وعده سوی وه په دې وجه د (کَمَا بَارَکْتَ) لفظ زیات سوی دی کیدای سی چې دهغه دوولس مشرانو دکوموچې خلفاء مراد سوی دی ختم نبوت ته اشاره وی یعنی له رسول الله ﷺ څخه وروسته به دنبوت اورسالت سلسله پای ته رسیږی خودخلافت سلسله به روانه وی اوپه دې وجه الله تعالی له امت سره یوائې دخلافت دسلسلې دجاری ساتلووعده وکړه دنبوت اورسالت یې په هیڅ ځای کې هم وعده نه ده کړی لکه چې الله تعالی فرمایې :

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ آمَنُوْا مِنْکُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَیَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِی الْاَرْضِ (۵۵ آیت سورة النور)

ژباړه : کوموخلکوچې ایمان راوړی دی اوکوموچې ښه عمل کړی دی له دوئ سره الله تعالی دخلافت ورکولوژمنه کړی ده

(وقال النبی صلی الله علیه وسلم خلافة النبوة بعدی ثلاثون عاماوقال النبی صلی الله علیه وسلم کانت بنواسرائیل تسوسهم الانبیاء کلماهلک نبی خلفه نبی وانه لانبی بعدی وسیکون خلفاء (رواه البخاری)

ژباړه : نبی کریم ﷺ وفرمایل چې دخلافت نبوی وخت به ترما وروسته دیرش کاله وی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې دبنی اسرائیلو انتظام ددوئ پیغمبرانوکوی کله چې به یونبی تیر سونودویم به دهغه پرځای راتلی مګر ترماوروسته بل هیڅ نبی نسته خوخلفاء به وی ..

دریم :په تورات سفر استثناء باب درویشتم آیت دویم ۲ کې دنبی کریم ﷺ دراتلوزیری

جَاءَ الرَّبُّ مِنْ سِیْنَاء وَاَشْرَقَ لَهُمْ مِنْ سَاعِیْرَ وَ تَلَألَأَ مِنْ جِبَالِ فَارَانَ وَاَتٰی مِنْ رَبَوَاتِ الْقُدُس وَعَنْ یَمِیْنِهٖ نَارُ شَرِیْعَةٍ) اوپه الجواب الفسیح کې دتورات له یوشمیرنخسو داسې نقل سوی دی

(جَاءَ الرَّبُّ مِنْ سِیْنَاءَ وَاَشْرَقَ لَنَا مِنْ سَاعِیْرَ وَاسْتَعْلَنَ مِنْ جِبَالِ فَارَانَ آه)

ژباړه : هغه وویل یعنی موسی علیه السلام وویل چې الله تعالی دسیناڅخه راغلی اوله ساعیر څخه په دوئ باندی لمروځلیدی اودفاران له غروهغه رڼاراښکاره سوه له لس زره قدوسیانوسره راغلی اودهغه په راسته لاس کې یواورلرونکې شریعت وددوئ لپاره .آه

په دې آیت کې : ده درو زیرو یادونه سوی ده (اول) په طورسینا باندی وموسی علیه السلام ته دتورات ورکول مراددی (دویم) اوساعیردیوه غره نوم دی چې هغه دناصره په ښارکې دی ناصره هغه ښاردی چې عیسی علیه السلام پکې پیداسوی دی په دې سره دعیسی علیه السلام نبوت اودانجیل ونازلیدوته اشاره ده (دریم) اوله فاران څخه دمکې غرونه مراددی په دې سره دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورسالت اودقرآن ونازلیدوته اشاره ده

غار حراء دفاران په غروکې یوغاردی چې په هغه کې ترټولومخکې پرنبی کریم ﷺ باندی (اَقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّکَ) سورة دسرپنځه آیتونه نازل سوی دی

سیف لودین کتابتون

دتورات په یویشتم ۲۱ باب شلم ۲۰ درس کې دهاجره او اسماعیل علیه السلام په یاد کې راغلی دی
(۲۰) او الله ﷻ دهغه هلک سره وو او هغه غټ سو او په بیابان کې یې پریښودی او له نظره ولویدی
(۲۱) او هغه دفاران په بیابان کې اوسیدی، انتهی.
داخبره ټول مني چې اسماعیل علیه السلام په مکه مکرمه کې اوسیدی له دې معلومه سوه چې دتورات په دې آیت کې دهغه دنبوت زیری دی کوم چې به دفاران له غروڅخه راښکاره کیږي ...او ګوره دښت به په خپل نورسره ډک سي ...اوس دې لوستونکی خپله پریکړه وکړي چې پرته له نبی کریم ﷺ بل کوم نبی دفاران له غرو راښکاره سوی دی او هغه ټوله دنیا دهدایت په رڼا سره روښانه کړي وی دفاران نبوت رښتیاهم دسینا او ساعیر ترنبوت ډیر روښانه دی
اوداورله شریعت څخه قرآن کریم مراددی ځکه هغه دجهادپه احکامو او حدودو او قصاص په احکامو باندی مشتمل دی اولس زره دقدوسیانو لښکر د ملائکه وو لښکر مراددی یا خو هغه لښکردی چې له رسول الله ﷺ سره دمکی دفتح په ورځ وو او مکه یې فتح کړه او دنصاری وو په خبره دمسیح علیه السلام دوولس حواریین ملګری وو او هغه هم دځان ساتلو په خاطر وتښتیدل او یو حواری یهودا دیرش درهم رشوت واخیستی او خپل مالک یې نیولی وو او ددې زیری ډیر ښه ترتیب او هیئت بیان دفکرورړدی اول یې دافرمایلی دی جَاءَ الرَّبُّ مِنْ سِيْنَاءَ الله تعالی له سیناڅخه راغلی او وروسته فرمایلی دی وَاَشْرَقَ لَهُمْ مِنْ سَاعِيْرَ له ساعیرغره څخه راښکاره سو چی له دې څخه مقصد دادی چې دتورات نازلیدل داسی دی لکه دسهار سترګه او دانجیل نازلیدل داسی دی لکه دلمر راختل او دقرآن کریم نازلیدل داسی دی لکه لمرچی په نیمه ورځ کې پرسرو دریږي
او همداسی وسود کفرتیاره پای ته ورسیده دایمان او هدایت دسهار پیل د موسی علیه السلام په وخت کې وسو او دفرعون او قارون او هامان په څیر کافران دالله ﷻ په عذاب سره تباه سو او کله چې عیسی بن مریم علیه السلام ښکاره سو نو دهدایت لمرهم دمشرق پر کنارو باندی راوختي او کله چې نبی کریم ﷺ راغلی نو دهدایت لمرداسمان نیمایې ته راورسیدی دځمکی داسی برخه نه سوه پاته چې هلته دی ددې لمرڼانه وی رسیدلی او په قرآن کریم هم ودې زیری ته اشاره سوی ده ﴿وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ ﴾(۱) ﴿وَطُورِ سِينِينَ ﴾ (۲) ﴿وَهَذَا الْبَلَدِ الأَمِينِ ﴾ (۳) سورة التين ، انځر، اوزیتون په پاکه ځمکه کې پیداکیږي په کوم ځای کې چې عیسی علیه السلام پیدا سوی دی همدا دعیسی علیه السلام رسالت ته اشاره دی او بلد امین ، دامن له ښاره، مکه مکرمه اخیستل کیږي دهمدی امن په ښارکې درسالت لمرد ورځي نیمایې ته راوسیدی الله ﷻ دمکی یادونه دامن په ښار سره وکړه و دې ته اشاره دی چې رسول الله ﷺ دالله ﷻ

سيف لودين کتابتون

دخزانو یوائخنی ملغلره ده چی دامانت په ډول دامن وښارته سپارل سوی ده بلدآمین درې پنځوس کاله ددې یکتاملغلری او دالله ﷺ دامانت ساتنه وکړه مګر کله چی وخت ییخی نازک سو نوپه دغه وخت کې بلدآمین په ناخوښه زړه سره داامانت مدینه طیبه ته وسیاری ، کذافی هدایة الحیاری)

لنډه داچی په دې کلام کې ددرې پیغمبرانوزیری ورکړل سوی دی اودزیری پای دخاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم په یادونه باندی سوی دی ددې لپاره چی ختم نبوت ته اشاره سی مخالفین وایې چی فاران دسینادیوی سیمی نوم دی محمد ﷺ خو په دی سیمه کې نه دی راښکاره سوی په دې وجه دازیری دهغه په حق کې نه سی کیدای

ځواب دادی : موږ وایو هغه تورات چی تاسویې منی دتورات کتاب پیدائش یویشتم باب ۱۳ درس څخه بیاتر ۲۱ درس پوری داسی لیکلی دی :

بی بی هاجری او اسماعیل ﷺ دبی بی ساره څخه دخفګان په وجه پاکه ځمکه پریښوده او دفاران په دښتو کې واوسیدل چی په دې بناء باندی به فاران هغه ځای وی کوم چی دا اسماعیل ﷺ او دهغه داولادو دا وسیدو ځای ثابت سوی دی

او داخبره په متواترروایت ثابته ده چی بی بی هاجره او اسماعیل ﷺ دحجاز په بیابان کې کې اوسیدلی دی په هغه ځای کی چی اوس مکه مکرمه آباده ده او همدلته ددوئ اولادونه اوسیدلی دی نوله دې معلومه سوه چی فاران دسیناء دسیمی دغره نوم نه دی بلکې دمکی مکرمی دیوه غره نوم دی چیری چی هاجره او اسماعیل ﷺ اوسیدلی وو

دسامری تورات په عربی ژبه ترجمه سوی چی دجرمنی علماء په کال ۱۸۱۵ کې په کاټنګن کې چاپ کړی دی دا سماعیل ﷺ دا وسیدو دځای په باره کې لیکلی دی

(وسکن فی بریة فاران رای الحجاز واخذت امرأة من ارض مصر (کون الدنیا، ۲۱/۲۲)

داؤد ﷺ دسموایل نبی له وفات کیدو وروسته دفاران بیابان ته ولاړی اوپه هغه ځای کې یې یوه کینه جوړه کړه اوپه ډیرافسوزیې داسی وفرمایل چی زه دقیدار دا وسیدو په ځای کې اوسیږم (دسمویل نبی لومړنی کتاب باب ۲۵ اول درس اوزبور ۱۲۰ درس پنځم

له دې په ډاګه معلومیږی چی قیدار په فاران کې اوسیدی قیدار دا سماعیل ﷺ دویم زوی دی داشعیاء پیغمبرله صحیفی څخه ښکاره کیږی چی هغه او دهغه اولاد په مغربی هیواد کې اوسیدل ، بطلیموس دحجاز منځنی ختیز دهغه دمیشتیدو ځای ښودلی دی په دې بناء باندی داخبره ثابته ده چی دحجاز سیمه او فاران دواړه یو ځای دی درسول الله ﷺ ظهورپه مکه کې سوی دی په کوم ځای کې چی دحجاز مشهورښاردی کذافی بشارات الاحمدیه (۱) او داور له شریعت څخه مراددادی چی هغه شریعت به پرجهاد او قصاص اوحدودو اوتعزیراتو باندی مشتمل وی او دهغه نبوت به ددنیوی پاچهی په ډول سره وی او دعیسی ﷺ نبوت ددنیاوی پاچهی په څیر نه وو اونه هغه دمجرمانو څخه په بدله اخیستلو باندی قادر وو

---

(۱) دارساله دحکیم سید محمد شمس الله قادری حیدرآبادی صاحب تصنیف دی درسالی ټولی صفحی ۳۲۱ دی دیر ګټوره او کوتاه رساله

سیف لودین کتابتون

څلورم : دتورات سفراستثناء باب ۲ ۳آيت ۱ ۲کې دنبی کریم ﷺ دراتلو زيرئ

هغوئ ددې په سبب سره کوم چې خدای نه دی ماته غیرت راکړواودخپلو کمزور خبرو سره ئی ماته غصه راوسته نوزه هم هغوئ ته چې په ډله کې نه دی اودبی عقل قوم نه به هغوئ پټموم ، انتهی .

په دې زيرى کې دبی عقل قوم څخه عرب ناپوهان مراددی کوم چې درسو ل الله صلی الله علیه وسلم ترنبوت مخکې په ناپوهی اوبی لارى کې اخته وو

په علوم عقلیه اوشرعیه سره پوهه خوپريږده دوئ دبت له عبادت کولوپرته په هيڅ شئ نه وو خبريهودواونصاری وو به دوئ ډير سپک ګڼل ودوئ ته به يې جاهلان اوځانوته به يې عالمان ويل، مګر کله چې يهودواونصاری وو دتورات اوانجيل اصلی ښوونه هيره که اودالله ﷻ ديووالى پرځاى په شرک اخته سولکه چې الله تعالی فرمايې :

(وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللهِ وَقَالَتْ النَّصَارَي الْمَسِيحُ ابْنُ اللهِ (۳۰آيت سورة التوبه)

يهودو عزير عليه السلام اونصاری ووعيسى عليه السلام دخدای زوی وبلل العياذبالله په دغه وخت کې دغيرت منذذات غيرت په جوش کې راغلی اوله ژمنی سره سم يې له ناپوه اواميانو څخه يونبی راوليږی چې دهغه په لاسوېې خپل دين ته عزت ورکې اويهوديې ددوئ په لاسووژل اومصراوشام يې ديهوداونصاری له واک وايستی لکه چې الله تعالی فرمايې

﴿يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ﴾ (۱) ﴿هُوَ الَّذِى بَعَثَ فِي الأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ﴾ (۲آيت سورة الجمعة)

ژباړه : دځمکی اواسمان اوڅه چې په دوئ کې دی ټول دپاچااوپاک اوځواکمن اوحکيم ذات تسبيح وايې داهغه پاک ذات دی چې له امیانونالوستوڅخه يې يورسول راوليږی چې هغه ودوئ ته دالله ﷻ آيتونه تلاوت کوی اودکتاب اوحکمت ښوونه ورکوی اوربښتياهم داخلک تردې مخکی په ښکاره بی لارى کې وو

له امیانونالوستوڅخه دعربوناپوه قوم مراددی اوعيسى اويوشع عليهما السلام قوم ناپوه اوسپک نه وو اونه بنی اسرائيلوته له دوئ څخه غيرت ورتلی نودازيری پرته له عرب قوم څخه بل پرهيڅاباندی نه صادقيږی .

اوله بی عقل اوناپوه قوم څخه نه يونانيين مراددی لکه دپولوس چې په رساله رومينه کې وايې ځکه يونانيان خوپه هغه وخت کې دپوهی اوفنون په اعتبارسره په ټوله نړۍ کې لوړوو پردوئ دناپوه اوبی عقل قوم مصداق څنګه کيدای سی ، سقراط ، بقراط ، فيثاغورث ، افلاطون ، جالينوس ، ارسط کاليس ، ارشميدس ، بيناس ، اقليدس ، داټول حکماء دمسيح عليه السلام له راتلواونبوت ډيری پيړۍ مخکی دټولوعلمواوفنونواستاذان او داحکامو پوه عالمان وو

سیف لودین کتابتون

پنځم : دتورات سفرپيدائش باب نه څلويښتم ۴۹ کې دنبي کريم ﷺ دراتلوزيرئ !

(۱) يعقوب ؑ خپل زامن راوغوښتل اوورته وې ويل چې تاسوراټول سی ددې لپاره چې زه دهغه څاکوم چې په تاسوباندی په دې څو ورځوکې راتلونکي دی تاسوته خبردرکړم

(۲) اې ديعقوب زامنوځائونه رايوځاى کى اوخبره واورى اودخپل پلار اسرائيل خبره منى اوبيا په لسم ۱۰ آيت کې راغلی دی : ديهودا څخه به دحکومت واک نه بيليږی اونه به حاکم دهغه دپښوپه مينځ کې تلل کيږی ترڅوپوری چې شيلا رانه سی آه اوقومونه دهغه خواته راټوليږی آه

په دې ليکل سويوآيتوکې ددې خبری يادونه سوی چې ترڅوپوری په آخيره زمانه کې شيلا راښکاره نه سی ترهغه وخته پوری به ديهودادنسل حکومت اوواک له لاسه نه وزی . دمسلمانانوپه عقيده شيلادرسول الله صلى الله عليه وسلم لقب دی نصاری يې دعيسى ؑ لقب ګڼی مګر دنصاری داخيال سم نه دی ځکه تردې عبارت مخکې عبارت ددې غوښتنه کوی چې شيلاديهوداله نسل څخه نه دی ځکه دشيلاپه ښکاره کيدوسره ديهودادنسل حکومت اوواک اورياست پاى ته رسيږی ځکه که شيلاديهوداله نسل څخه سی نودهغه ښکاره کيدل خوديهودادنسل دحکومت دبقاباعث دی نه دپاى ته رسيدو آه اودبائيبل په بابوبلکې دانجيل متى اوله صفحی ته که څوک وګوری داخبره ښه روښانه کيږی چې عيسى ؑ ديهوداله نسل څخه دی ځکه عيسى ؑ دداؤد ؑ له نسل څخه دی اوداؤد ؑ دټولوپه اجماع سره ديهوداله نسل څخه دی ،

نوځکه دشيلامصداق يوائې هغه نبي کيداى سی چې هغه ديهوداله نسل څخه نه وی اودهغه راښکاره کيدل په آخره زمانه کی وی لکه چې داول آيت له جملی څخه معلوميږی : ددې لپاره چې زه دهغه کوم چې په تاسوباندی په دې ورځوکې تيريږی تاسوته خبردرکړم . دغه دواړه خبری په نبي کريم ﷺ باندی صادقيږی چې يوخوهغه ديهوداله نسل څخه نه دی بلکې داسماعيل ؑ له نسل څخه دی اوبل داچې دده ښکاره کيدل هم دخاتم النبيين کيدوپه وجه سره په آخره زمانه کې سوی دی اودنبي کريم ﷺ له نبوت وروسته چې ديهودادنسل کوم حکومت اوواک وو هغه ټول پاى ته ورسيدی بنی نضير اوخيبرټول کلی درسول الله ﷺ په وخت کې فتح سو اوپه دې جمله کې چې (قومونه به دهغه خواته راټوليږی) په دې کې اشاره وعموم ته ده لکه چې الله تعالى فرمايي قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعاً (۱۸۵ آيت سورة الاعراف) اې نبي ؑ ووايه چې اې خلکوزه تاسوټولوته دالله ﷻ له لوری راليږل سوی رسول يم .

سیف لودین کتابتون

او عيسی عليه السلام ټولو خلکو ته نه وو راليږل سوی ځکه دهغه نبوت يوائحي دبنی اسرائيلو لپاره وو لکه چی الله تعالی فرمايي (وَرَسُولاً إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ (۴۹ آيت سورة آل عمران)
او بل داچی بيلابيل قومونه او بيلابيل خلک دنبی کريم ﷺ په خواکی رايوځای سو دی او دده په دين کې په ډلو ډلو داخل سوی دی داخبره عيسی عليه السلام ته نه ده حاصله سوی او په يولسم آيت کې راغلی دی (هغه به خپل خر دانگورو په ونه پوری تړی) په مدارج النبوة کې راغلی دی چی کله رسول الله صلی الله عليه وسلم خيبرفتح کی نوهلته يې يو تورخروليدی نبی کريم ﷺ له هغه سره خبری وکړی او دهغه نوم يې وپوښتی هغه ځواب ورکي چی زمانوم يزيد بن شهاب دی الله تعالی زماپه څيرشپيته خره پيدا کړی دی چی په هغو باندی له نبی پرته بل چاسپرلی نه ده کړی اوزماامید دی چی ته به په ما باندی سپرلی کوی زمو ږ په ټول نسل کې له ما پرته بل څوک نه دی پاته او په انبياء عليهم السلام کې له تا پرته بل څوک نه دی پاته رسول الله ﷺ په هغه خره باندی سپورسو او هغه خر دنبی کريم ﷺ دوفات وروسته دمرګ له ډيره غمه په يوه کوهی کی ځان واچوی او مړسو
او په همدې يولسم آيت کې راغلی دی :
هغه به خپل جامی په شرابو کې او خپله جامه دانگورو په اوبو کې مينځی)
په دې آيت کې داصل عبرانی څخه دترجمه کولو کې په وخت کې څه تغير سوی دی اصلی عبارت داسی دی : هغه به خپلی جامی دانگورو له اوبو مينځی يعنی دهغه نبی اخرالزمان په شريعت کې به شراب حرامیږی اولکه څنگه چی دنورو مرداريو څخه دجامو دپريوللو حکم ورکوی دغه رنگه به دشرابو څخه هم دجامودپاکولو اوساتلو حکم کوی .
او کيدای سی چی له دې څخه دالله ﷻ دمحبت په شرابو کې غرقيدل مراد وی دنبی کريم ﷺ شان خو ډير لوړ وو نبی کريم ﷺ هغه سيدالاولين والاخرين بلا فخر دی دده په امت کې په زرگونو نه بلکې په سلها و وزره داسی خلک تيرسوی دی چی دالله ﷻ په مينه او محبت کې هيڅ امت دهغه سره سيالی نه سی کولای
او بيا په دولسم ۱۲ آيت کې راغلی دی :
دهغه سترگی به ترشرابو سری وی او دهغه غاښونه به ترشيدو سپين وی)
په دې آيت کې دهغه نبی عليه السلام حليه مبارکی ته اشاره سوی ده چی دهغه سترگی به سری او غاښونه به يې سپين وی په زرقانی شرح مواهب کې راغلی دی چی کله رسول الله ﷺ دتجارت لپاره بصری ته ولاړی نوتريوه سايه لرونکی ونی لاندی کښينستی نسطوراراهب ميسره مريئ راوغوښتی چی له نبی کريم ﷺ سره ملگری وو داپوښتنه يې ځنی وکړه چی دنبی کريم ﷺ په سترگو کې سوروالی شته ؟ميسره ورته وويل چی دهغه په

سیف لودین کتابتون

سترګوکې همیشه سوروالی وی هیڅکله نه ځنی بیلیږی دغه وخت نسطورا راهب وویل چی دا آخری پیغمبردی آرمان چی زه دده دنبوت وخت پیدا کړم

شیخ جلال الدین سیوطی رحمة الله علیه په تاریخ مصرکې لیکلی دی چی کله حاطب درسول الله صلی الله علیه وسلم دمصروپاچامقوقس ته داسلام بلنلیک ورسوی نودمصرپاچادنبی آخرزمان دعلاموپه بیان کولوسره وویل چی دهغه له سترګوبه سوروالی نه جلاکیږی حاطب ﷺ ورته وویل چی رښتیاهم دده دسترګومبارکوڅخه سوروالی هیڅکله نه بیلیږی لکه چی دنبی کریم ﷺ په شمائل کې داشکل العینین لفظ راغلی دی اشکل هغه سترګوته وایې چې په هغوکې سپین والی اوسوروالی دواړه ګډسوی وی اوپه یوشمیررواياتوکې داَدعَج لفظ راغلی دی چی دهغه معنی دی چی دچاپه سترګوکې توروالی وی نوپه دواړورواياتوکې هیڅ تضادنسته ځکه دښائست لپاره سوروالی اوتوروالی دواړه لازمی دی یوائي سوروالي یاتوروالی دومره ښائست نه پیداکوی لکه څومره چی دسوروالی اوتوروالی له یوځای والی څخه پیداکیږی .

شپږم :په زبورباب پنځه څلویښتم کې داؤد علیه السلام دنبی کریم ﷺ دراتلوزیری ورکړی دی

(۱)زماپه زړه کې غوره مضمون خوټیږی زه هغه شیانوته کوم چی ماد پاچاپه هکله جوړکړی دی یانوم زماژبه دماهرلیکونکي قلم دی (۲) ته په ښایست کې ترنورو انسانانوډیر زیات یې ستاپه شونډوکې نرمی ایښودل سوی ده په دې وجه الله تعالی ته دهمیشه لپاره مبارک کړی یې (۳) پرخپلوورنوباندی بریالی کړی یې (۴) په خپله بزرګی اوتوان سره سپورسه اودرښتینولی اونرمۍ اومهربانی اورښتیالپاره راوړاندی سه اوستاراسته لاس به ویرونکي کاروښیې (۵) ستاغشی ډیر تیزدی اوخلک به ستاترلاس لاندی وی غشی به دپاچادښمنانوپه زړوکې لګیږی (۶) ستاتخت ای الله ابدالابدهمیشه دی ستادپاچهۍ واک دلاری لکړه ده (۷) ته درښتیادوست اوشردښمن یې په دې سبب ستارب ستا دخوشالۍ لپاره ته ترملګروډیر فصیح کړی یې

(۸) ستادټولوجاموڅخه دعوداوتج خوشبویې راځي چی په هغه سره دپیل دغاښ دځایوپه مینځ کې ته خوشاله کړی یې (۹) دباچهانولوڼی ستادعزت خاوندان دی دشاهزادګۍ اوشاپیریوڅخه ښائسته سوی ستاپه راسته لاس کې ولاړی دی (۱۲ آیت کې راغلی دی :اودصورلوربه ډالۍ راوړی دقوم شتمن به ستاهرکلئ کوی اوپه شپاړسم آیت کې راغلی دی : ۱۶ ستازامن به دپلرواونیکه ګانوځای ناستی وی ته به ددوئ دځمکومشرهاکي (۱۷) زه به په ټولوپشتونوکې ستانوم یادوم اوټول خلک به تل تر تله ستاستاینه کوی ، انتهی)

سیف لودین کتابتون

دټولو اهل کتابو په نزد داخبره منل سوی ده او په ډېره مینه هغه وایې او دده صفتونه بیانوی او داوایې چې هغه نبي چې کله راښکاره سي نو په دې صفاتو سره به موصوف وي هغه صفتونه دغه دي لاندې دې موږ یې درته بیانه وو :

پاچا یعني دټولو شخه به دلوړې مرتبې او دکمال خاوندی وي (۲) ښائسته به وي (۳) په شونډو کې نرمي یعني خوږه ژبه او خلاصي خبرې او خوږې خبرې به کوي (۴) ټول وخت به مبارک وي (۵) پهلوان یعني ځواک من به وي (۶) توره ترملا به وي (۷) دحق ملګرې او رښتیا ویونکې به وي (۸) بختور به وي (۹) دهغه له راسته لاس به عجیب او نالیدلې آثار ښکاره سي (۱۰) غشي ویشتل (۱۱) خلک به دده ترلاس لاندې وي یعني دالله ﷻ مخلوق به دده پیروي کوي (۱۲) دتخت تل پاته کیدل یعني دده شریعت او حکومت او اسلام به ترقیامته پورې پاته وي (۱۳) دپاچهي واک به د رښتیا لارښوونه وي (۱۴) د رښتیا به دوست او دشر به دښمن وي (۱۵) دهغه له جامو به خوشبوي راځي (۱۶) دده کورته به دپاچهانو لوڼې ورځي (۱۷) تحفې او ډالۍ به ورته راځي (۱۸) اولادونه به ډیلر و پرځای واکمن وي (۱۹) په ټولو پشتونو کې پیړۍ په پیړۍ او نسل په نسل به دهغه یادونه پاته کیږي (۲۰) تل به خلک دده ستاینه کوي

دمسلمانانو په نزد ددې زیرې مصداق محمدرسول الله ﷺ دي دیهودو په نزد ترداؤد علیه السلام وروسته تراوسه ددې زیرې مصداق نه دي ښکاره سوی او نصارې وایې چې ددې زیرې شخه عیسی علیه السلام مراد دی مګر مسلمانان دادعوه کوي چې ددې زیرې مصداق یوائې نبي کریم ﷺ کیدای سي (لومړی دلیل) دپاچهي ثبوت درسول الله لپاره ترلمر ډیر روښانه دی الله تعالی رسول الله ﷺ ته ددین او دنیا دواړو پاچهي ورکړې ده دالله ﷻ احکام یې دپاچهانو په شیرجاري کړې دي لکه شنګه چې دنصارې په عقیده عیسی علیه السلام دیهودو لعنهم الله له لورې شخه مجبور او مقهور وو نبي کریم ﷺ خو مجبور او مقهور نه بلکې نبي کریم ﷺ یهود له خپلو کلاګانو او سیمو شخه وشړل

لنډه دا چې نبي کریم ﷺ ددین او دنیا پاچا وو دټولو رسولانو انبیاء علیهم السلام غوره نبي علیه السلام دی و هیڅ رسول ته دقرآن کریم په شیر معجز کتاب نه دی ورکول سوی او نه چا ته دنبي کریم ﷺ په شیر پوره شریعت ورکړل سوی دی چې ددواړو کورو دکامیابۍ او خلاصون پوره ذمه وار وي چې هغه په عقائدو او اعمالو کې په غلطی باندې خبرور کړې وي و الله ﷻ ته د رسیدو لپاره یې لاره داسي پاکه کړې وي چې دتلونکې لپاره یې هیڅ کږځ او دوړې نه وي ړی ایښي دښو اخلاقو او دکورنۍ ژوند او دحکومت چارې او دټولنیز ژوند سره سره په دې ټولو مشتمل وي لنډه دا چې په دین اسلام کې دغه ټولې ځانګړتیاوې شته دا ټول ښه صفتونه او ښیګڼې یوائې په دین اسلام کې

سيف لودين كتابتون

راوړي دي (إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللهِ الإِسْلَامُ (۱۹ آيت سورة آل عمران) بيشکه دالله ﷻ په نزد باندي غوره دين دين اسلام دی . داهغه کامل اوپوره دين دی چي دهغه په راتلوسره دټولو اديانو اومذاهبو ډيوه مړه سوه

(۲)نودکوم نبی ﷺ چي دټولو اسماني کتابو او صحيفو څخه غوره والي ثابت سوی وی اودده شريعت ترټولو شريعتو اودينو په ډيرو درجولوړ اوکامل اوپوره وی اودده معجزی ترټولو انبياء عليهم السلام ترمعجزو ډيری وی اوهم غټی وی اودده امت هم ترټولو امتو دعلم اوعمل عقيدی اوښو خويو اوحکومتی چارو اوټولنيزژوند ترټولو لوړوی نودهغه نبی ﷺ دسيد الاولين والاخرين اودواړو جهانو په باچا کيدو کي څوک شک اوشبه کولای سی

(۳) په ښائسنت اوکمال کي نبی کريم ﷺ داسی وو لکه څنګه چي ابوهريرة ﷺ روايت کړی دی وايي : چي ماتررسول الله صلی الله عليه وسلم بل څوک ښائسته اوخوبصورت نه دی ليدلی داسي ښکاريدی لکه سپوږمی چي دده مبارک په مخ کي ګرزی اوکله چي به يي تبسم وکی نودغاښو مبارکو څلا به يي په ديوالو باندی ښکاريدله

حسان بن ثابت ﷺ فرمايلي دی :

وَاَحْسَنَ مِنْکَ لَمْ تَرَ قَطُّ عَيْنِیْ .... وَاَجْمَلَ مِنْکَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ

زماسترګو ترتا ډير ښائسته نه دی ليدلی . اوستا څخه ډير ښائسته ښځو نه دی زيږولی

خُلِقْتَ مُبَرءً مِنْ کُلِّ عَيْبٍ .... کَاَنَّکَ قَدْ خُلِقْتَ کَمَا تَشَاءُ

ته دهرعيب څخه پاک پيدا سوی يي ګواکی ته دخپلي غوښتني برابر پيدا سوی يي

ام المؤمنين عائشه صديقه ﷺ وايي چي دمصر ښځو ديوسف ﷺ په ليدلوسره خپل لاسو نه پريکړل که دوئ زموږ حبيب محمد صلی الله عليه وسلم ليدلی وای نوزړونه به يي ټوټی کړی وو

لنډه دا چي دنبی کريم ﷺ ښائسنت اوهيئت په دنياکي ډير مشهوروو اودښائسنت والی سره ونبی کريم ﷺ دپاچهی مرتبه اوعزت هم حاصل وو هيڅ داهمت نه درلودی چي ودته مخامخ وګوری اودنبی کريم ﷺ خلاصی اوخوږی خبری ټولو منلی دی دنبی کريم ﷺ پاکی خبری اوس هم په صحيح اوجيد سند سره خوندی دی چي په هغه سره دنبی کريم ﷺ دفصاحت اوبلاغت اوخوږی ژبی ښه اندازه کيدای سی .

(۴)اونبی کريم ﷺ ټول وخت مبارک هم دی لکه په دويم زيری کي چي تيرسو په مشرق اومغرب اوشمال اوجنوب کي په کروړو مسلمانان په لمانځه کي اوله لمانځه څخه وروسته اوپه بيلا بيلو وختو کي دنبی کريم ﷺ داسی ستاينه کوی

(اَللّٰهُمَّ بَارِکْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّکَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ)

سيف لودين كتابتون

اې الله ﷻ برکت نازل کړی په محمدﷺ او دهغه په آل باندی لکه تاچی په ابراهيم ﷺ او دهغه په آل باندی برکت نازل کړی دی بيشکه ته ستايل سوی او عزتمندې

تاسو وواياست تردی دډير مبارک کيدو بل کوم دليل کيدای سی چی دهغه لپاره ددنياپه هرکونج کې دبرکت دعاء سهار او ماښام اوپه هره ثانيه کې په سلهاووزره واره غوښتل کيږی

(۵) په قوت کې نبی کريم ﷺ ترغښتليوپهلوانانوهم ډير غښتلی وو دده مثال نه وو يوه ورځ رسول اللهﷺ په زنګله کې له رهانه پهلوان سره مخامخ سو پهلوان ورته وويل چی ته ماته په حملوراسه که دې زه وپرزولم نوزه تاحق نبی بولم رسول اللهﷺ هغه راوپرزوی هغه پهلوان ددويم ځل مقابلی غوښتنه وکړه دويم ځل بيانبی کريم پهلوان راوپرزوی هغه پهلوان ډير تعجب وکی نبی کريم ﷺ وفرمايل که ته دالله ﷻ څخه وويريږی اوزماپيروی وکړی نوتردې به عجيب شئ درته وښيم هغه پوښتنه و کړه چی تردې ډير عجيب څه شئ دی نبی کريم ﷺ يوه درخته راوغوښتنه هغه درخته دنبی کريم ﷺ ته راغله اومخ ته يې ودريده وروسته نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل بيرته خپل ځای ته ولاړه سه نوهغه ونه بيرته خپل ځای ته ولاړه

(۶) نبی کريم ﷺ توره تړونکی اوجهادخاوندوو داخبره خوټولومنلی دی اوعيسی ﷺ نه توره تړونکی اونه دجهادامرورته سوی وو اودنصاری په خبره په ده کې دومره واک هم نه ووچی خپل ځان يې له يهودوساتلی وای

(۷) اونبی کريم ﷺ دحق اوربښتياملګری وو لکه چی الله تعالی فرمايې

﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾ (۳۳آيت سورة التوبه

ژباړه : الله تعالی خپل رسول ﷺ په هدايت اوحق دين سره راليږلی دی ددې لپاره چی دادين په ټولودينوباندی غالب کړی که څه هم مشرکين يې بدګڼي نبی کريم ﷺ نه شاعروو اونه ليونی وو بلکې حق يې راوړی اودپيغمبرانوعليهم السلام تصديق يې وکړ ﴿بَلْ جَاءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِينَ﴾ (۳۷آيت سورة الصافات) ﴿وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ﴾ ۳۳آيت سورة الزمر)ژباړه : هغه څوک چی ربښتينی خبريې راوړی دی اوچاچی دهغه تصديق کړی دی همداخلک پرهيزګاران دی ..

نضربن حارث يوه ورځ قريشوته ويناوکړه داسی يې ورته وويل :

(قدکان محمدفيکم غلاماحدثاارضاکم فيکم واصدقکم حديثا واعظمکم امانة حتی اذارأيتم فی صدعيه الشيب وجائکم بماجاء کم قلتم انه ساحرلا والله ماهوبساحر)

ژباړه : محمدﷺ په تاسوکې ځوان وو ترټولوغوره وواوترټولوډير ربښتياويونکي وو اوترټولوډير امانت ساتونکي وو مګرکله چی تاسودده دسرپه دواړواړخوکې سپينوالی

سیف لودین کتابتون

ولیدی او ده تاسو ته حق دین راوړی نو تاسو هغه ته ساحر او جادوګر وویل هیڅکله داسی نه دی قسم په الله ﷻ که هغه ساحروی

او د روم پاچا هرقل چی کله له ابوسفیان څخه د نبی کریم ﷺ په اړه پوښتنه وکړه چی یو وخت تاسو له ده څخه دروغ اوریدلی دی ابوسفیان په ځواب کې ورته وویل چی نه هیڅکله مو له ده څخه دروغ نه دی اوریدلی بلکې هغه په صادق سره مشهور دی .

(۸) بختور کیدل هم د نبی کریم ﷺ ترلمر ښکاره دی ځکه الله تعالی چی نبی کریم ﷺ ته کوم بخت ورکړی دی ترننه نه و چا ته ورکول سوی دی او نه به ورکول سی

(۹) او د راسته لاس به ویریدونکی او عجیب آثار ښکاره سی له دی څخه د سپوږمۍ د دوه ځایه کیدو ته اشاره دی ،، او بل دا چی د بدر او حنین په غزاکې د نبی کریم ﷺ په یوه موټی خاورو سره ټول کافران خړپړ سو دا هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راسته لاس کار وو .

(۱۰) غشی ویشتل د بنی اسماعیلو مشهور کار دی لکه چی په حدیث کې راغلی دی

(ارموا بنی اسماعیل فان اباکم کان رامیا) اې د اسماعیل ؑ زامنو غشی ویشتل کوی ځکه ستاسو پلار غیشی ویشتونکې وو ... او په دویم حدیث کې راغلی دی (من تعلم الرمی ثم ترکه فلیس منا) څوک چی غشی ویشتل زده کې او بیایې پریږدی هغه له موږ څخه نه دی ..

(۱۱) خلک د نبی کریم ﷺ تر لاس لاندی کیدل یعنی د الله ﷻ مخلوق د نبی کریم ﷺ تابع او پیرو کیدل دا هم ترلمر روښانه دی په څو ورځوکې په زرهاو خلک په دین اسلام کې داخل سو لکه چی الله تعالی فرمایي ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ﴾ (۱) ﴿وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللهِ أَفْوَاجاً﴾ (۲) ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابا ۳آیت سورة النصر﴾ ژباړه : کله چی د الله ﷻ مرسته او فتح راغله او تا خلک ولیدل چی د الله ﷻ په دین کې ډلی ډلی داخلیدل نو د خپل رب ﷻ پاکې او ستاینه کوه او بښنه غواړه رښتیا هم الله ﷻ ډیر توبه قبلونکې ذات دی ..

(۱۲) او د نبی کریم ﷺ شریعت به د تل لپاره پاته وی لکه چی په قرآن کریم کې د الله ﷻ دوعدی برابر راغلی دی ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ ۹آیت سورة الحجر)

په تحقیق سره موږ قرآن نازل کړی دی او موږ د دې ساتونکې یو .... تردیارلسمی پیړۍ پوری خو ییخی خوندی پاته دی الحمد لله تر او سه پوری د هغه په ټکی کې او پیښ کې هیڅ تغیر نه دی راغلی او نه به ترقیامته راسی او همدا سی به پاته وی یهودا و نصاری وو ته د خپل تورات او انجیل حال ښه معلوم دی د دې د ویلو او بیان کولو اړتیا نسته

(۱۳) او د نبی کریم ﷺ د پاچهۍ واک رښتیا او صداقت واک دی آه

د تل لپاره به په ده سره حق روښانه کیږی او باطل به سرکوبه کیږی

(۱۴) او نبی کریم ﷺ د رښتیا دوست او د شر دښمن وو لکه چی الله تعالی فرمایي :

سیف لودین کتابتون

﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾ (۱۲۸ آیت سورة التوبه) .. ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾ (۹ آیت سورة التحریم)

ژباړه : په تحقیق سره تاسوته له تاسو څخه داسی رسول ﷺ راغلی دی چی په هغه باندی ستاتکلیف ډیر ګران دی ستاسو په نیکۍ باندی حرص کونکي دی په مؤمنانو باندی ډیر مهربان دی.... اې نبی ﷺ له کفارو او منافقیو سره جهاد وکړه او له دوئ سره سختی وکړه

او دنبی کریم ﷺ دامت صفتونه په لاندی ډول دی :

﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ (۲۹ آیت سورة الفتح) أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ (۵۴ آیت سورة المائدة)

ژباړه :محمد ﷺ او هغه څوک چی له ده سره ملګری دی په کافرانو باندی ډیر سخت دی او په خپل مینځ کې ډیر مهربانی کونکي دی په مؤمنانو باندی نرم او په کافرانو باندی سخت دی دالله ﷻ په لاره کې جهاد کوی او د ملامت کونکي له ملاتیانه ویریږی

کیدای سی چی له شره ابوجهل مرادوی ځکه هغه له سره ترپښو پوری شروو او له صداقت څخه ابوبکرصدیق ؓ مرادوی ځکه هغه له سره ترپښو رښتیا او صداقت وو او رښتیاهم ابوبکرصدیق ؓ ددې اهل دی چی هغه دنبی کریم ﷺ دوست او ملګری وی .

(۱۵) دنبی کریم ﷺ له جامو به خوشبویې هم راتله لکه چی ویل کیږی یوی ښځی دنبی کریم ﷺ دبدن خوله مبارک په دې وجه سره یوځای که چی دناوی جامی په خوشبویه کړی

(۱۶) په لومړۍ پیړۍ کې ډیری شهزادګیانی دمسلمانانو خذمت ګارانی وی لکه شهربانو دکسری پاچا یزدجرلور چی دامام حسن ؓ په کورکې وه

(۱۷) دحبشه پاچا نجاشی او دبحرین پاچا منذربن ساوی او دعمان پاچا او نور ډیر مشران او امیران او واکمنو په نبی کریم ﷺ باندی ایمان راوړی دی او پاچهانو او امیرانو به ونبی کریم ﷺ ته تحفی او ډالۍ رالیږلی دمصرپاچا مقوقس نبی کریم ﷺ ته درې مینځي او یو حبشه مریئ او یو سپین قچر او یو آس او څه جامی دډالۍ په ډول ورلیږلی دی

او ترنبی کریم ﷺ وروسته دقریشو خلافت پاته سوی دی دنبی کریم ﷺ په اولادو کې حسن ؓ خلیفه سوی دی او دحسن ؓ په اولادو کې په سلګونو خلیفه ګان سوی دی په حجاز ، یمن ، مصراوشام او نورو سیمو کې دوئ حکومت کړی دی او قیامت ته نژدی به امام مهدی ؑ راښکاره کیږی هغه به هم دامام حسن ؓ له اولادو څخه وی او دټولی ځمکی خلیفه به وی

(۱۹-۲۰) او دنبی کریم ﷺ صفت او دخیر یادونه به دتل لپاره پاته وی په هرآذان کې داَشْهَدُاَنْ لَّااِلٰهَ اِلَّااللهُ وروسته په لوړآواز سره اَشْهَدُاَنَّ مُحَمَّدًارَّسُوْلُ الله هرورځ پنځه ځله په سلهاو وزره مسلمانان وایې هیڅ نصیحت او خطبه نسته چی په هغه کې دی دمحمد رسول الله ﷺ پاک نوم نه یادیږی دمحمد او احمد ﷺ معنی ستایل سوی دی ددې زیری په سرکې داحمد لفظ

صراحة یادسوی دی مګر اهل کتابو دکین په وجه ایستلی دی خو وروسته صفتونه له
محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم پرته پربل هیچانه صادقیږی . ځکه دنصاری په عقیده
اوفاسدعقیده باندی خومسیح بن مریم عليه السلام ددې زیری ورنه دی ځکه نصاری دیسعیاه
عليه السلام دصحیفی درې پنځوسم باب دمسیح عليه السلام زیری ګڼلی دی هغه دادی (زموږ په
پغمبرباندی چاعقیده لرلی ده اودالله ﷻ لاس په چاباندی ښکاره سوی دی دهغه ښائست
اوښکاره هیڅ ښه والی نه وو اونه څه ښائست وو چی موږ هغه ته وګورواوڅه وضاحت هم
نسته چی موږ دهغه هیله ولروهغه په انسانانوکې ډیر ذلیل اوسپک وو آه
اوبیاپه پنځم آیت کې وایې :هغه زموږ دګناهونوله کبله وژل سوی اوپه دارځړول سوی دی
اوزموږ دبدوکاروله کبله میده سوی دی معاذالله نوددوئ په نزدچی عیسی عليه السلام داسی وو
نوهغه څنګه ددې صفتومصداق کیدای سی هغه اوصاف بیخی ددوئ دعقیدی ضددی
زموږ عقیده خودادی چی لکه څنګه تاسوپه انجیل اوتورات کې له ځانه شیان جوړکړی
دی یاموځنی غورزولی دی دغه رنګه موپه دې صحیفه کې هم ښکاره دروغ له ځانه
جوړکړی دی عیسی عليه السلام هیڅ کله داسی نه وو هغه په دنیااوآخرت کې ډیرعزتمنداودالله
ﷻ نژدی بنده دی اونه په دارځړول سوی دی اونه وژل سوی دی مګر بیاهم عیسی عليه السلام
ددې زیری مصداق نه سی کیدای ځکه عیسی عليه السلام توره تړونکي نه وو اونه غشی
ویشتونکي وو اونه ورته دجهادامرسوی وو اونه دده شریعت دتل لپاره وو اونه دده نبوت
عام وو اونه دده وکورته شهزادګیانی راغلی دی نه دښځی په صفت اونه ده مینځی ځکه
ده هیڅ نکاح نه ده کړی اوبل داچی دده نه پلاراونیکه وو هغه پرته له پلاره دالله ﷻ په
کامل قدرت پیداسوی دی ..والله سبحانه وتعالی اعلم)

اووم : داؤد عليه السلام په زبورکی باب ۱۴۹ کې دنبی کریم ﷺ دراتلوزیری ورکړی دی

(۱) دالله ﷻ ستاینه کوی دالله ﷻ یوه نوی سندره داوایې چی دهغه صفت به دخلکوپه
ټولی کې کوم (۲) اسرائیل دخپل جوړونکي څخه خوشاله سو بنی صیهون دې دخپل
پاچاله کبله خوشالی وکړی (۳) هغوئ دده دنوم په یادولوسره اوتاسو دتمبل اورباب په
غږولوسره دهغه ستاینه وکوی (۴) ځکه خدای دخپلوخلکوخوشالیږی هغه صبرناک ته
دخلاصون لاره ورکوی (۵) پاک خلک دې په خپل عزت باندی فخروکړی اوپه
خپلوبستروپراته وی او (۶) دخدائ صفت دې دهغوئ پرژبه باندی جاری وی دین اودوې
تیری توری ددوئ په لاسوکې وی (۷) ددې لپاره چی دنورو امتوڅخه بدله واخلی
اوخلکوته سزاورکړی (۸) دهغوئ پاچهان به په زنځیرواوددوئ امیران به داوسپینی په
بیړیوزولنوسره وتړی (۹) ددې لپاره چی په هغوئ باندی هغه پریکړه کومه چی لیکل
سوی ده جاری کړی چی دهغه پلار دخلکو داعزت دی چی دخدای ستاینه کوی آه (زبور)

سیف لودین کتابتون

په دې زيرې کې له راتلونکي نبي عليه السلام څخه په پاچاسره تعبيرسوی دی اودهغه منونکی خلک به نيکان اوپاک خلک وی يعنی هغه راتلونکي نبی به پاچاوی اودده توره به دحق خوشالی‌وی اودغضب الهی په غوښتنه به دکافرانوپه حق کې تيره وی اودده ملګری اوصحابه به له ده سره دکافرانوپه مقابل کې جهادکوی وروسته دنبی عليه السلام دمنونکوڅخه صفتونه يادسوی دی چی هغه له سره ترپايه ټول په امت محمدی باندی صادق دی ځکه داهغه امت دی چی په خپلوبستروباندی به الله جل جلاله يادوی لکه چی الله تعالی فرمايي

الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَاماً وَقُعُوداً وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ (۱۹۱آيت سورة آل عمران)

ژباړه: الله جل جلاله يادوی په ولاړه اوپه ناسته اوپه تکيه لګولوسره په اړخوباندی..

اوداهغه امت دی چی په لمانځه اوجهاداوهرآذان اوهراختراوداايام تشريق په ورځواود حج په ورځوکې اوپه منی اومزدلفه اوعرفات کې الله جل جلاله په لوړآواز سره يادوی داسی امت نه دی لکه يهوداونصاری ځکه يهودخوبوق اونصاری ناقوس ږغوی اوپه لوړآواز سره الله اکبرويل اوالله جل جلاله يادول يوائي دحضرت محمدمصطفی صلی الله عليه وسلم دامت شعاردی. اومهاجرين اوانصار رضی الله عنهم دوې تيری توری دی روم اوشام اونورهيوادونه اولويې لويې امپراتوری اوپاچهان اوامیران دوئ بنديان کړی دی اوداهل کتاب په عقيده خوددې زيری مصداق سليمان عليه السلام دی ځکه داهل کتابوپه فاحشه اوباطل عقيده معاذالله مسلمانان دانه وايي بلکې اهل کتاب وايې چی سليمان عليه السلام په اخيردعمرکې مرتداوبت پرست سوی دی..

اوعيسی عليه السلام ددوئ دعقيدی برابرددې زيری مصداق نه سی کيدای ځکه ددوئ په نزدمسيح عليه السلام په خپله وژل سوی اوپه دارسوی دی اودده ډير حوارييين نيول سوی دی هغه نورپاچهان اواميران نه دی بنديان کړی اوپه زيری کې داياده سوی چی هغه سړی به پاچاوی اوښکاره خبره ده چی عيسی بن مريم عليه السلام پاچانه وو اومعنوی پاچهی خوهرنبی ته حاصل وی په دې کې دعيسی عليه السلام خاص والی نسته.

اوله کافرانوسره جهادکول اوکافران وژل اوبنديانول عبادت دی نه داچی دسوال کولوځای دی لکه چی موسی عليه السلام اوله موسی عليه السلام وروسته يوشع عليه السلام ته دجهادامرسوی دی اوبل داچی سليمان عليه السلام اودهغه دملګروجهاددټولويهودواونصاری په نزد منل سوی دی خلاصه دخبری دادی چی ددې زيری مصداق مسيح عليه السلام نه سی کيدای ځکه دزبورله مضمون څخه داښکاره کيږی چی راتلونکي نبی به پاچاوی اوله خپلوملګروسره به يوځای جهادکوی اولوی لوی متکبرين اوسرکښان به وژنی اوبنديان کوی به يې اودده ملګری به په لوړآواز تکبيروايې اوله ده سره به وی داټول کارونه درسول الله صلی الله عليه وسلم په لاس مبارک ښکاره سوی دی بل هيڅ نبی داسی نه دی راغلی دی چی داتيرسوی ټول صفات دې پکښې وی..

سیف لودین کتابتون

اتم : زبور باب ۲۷ لومړی درس دنبی کریم ﷺ دراتلو زیری !

(۱) اې خدایه پاچاته خپل عدالت ورکړه او پاچازوی ته خپل رښتینولی ورکړه (۲) هغه به ستا په مخلوق کې په رښتیا سره امر کوی او ستا په بې وزله خلکو کې به په برابری سره حکم کوی (۳) غرونه به دخلکو لپاره په امن وی او میدانونه به هم په رښتیا (۴) به هغه دقوم دبې وزلو سره انصاف کوی او دارمنو خلکو زامن به ساتی او تیری کونکي به ټوټې ټوټې کوی (۵) ترڅو پوری چې لمر او سپوږمۍ پاته وی د ټولو ټبرونو خلک به ستا څخه ویریږی (۶) هغه به دباران په څیر چې په پریکړل سوی واښه باندی یوه میاشت اوری داسی به ځمکه خړوبه کوی او به کوی (۷) دهغه دنبوت په وخت کې ترڅو پوری چې سپوږمۍ پاته وی دې به صادق چلیږی او سلامتیا به ورکوی (۸) له سینده بیا ترسینده پوری غاړی او دسینده بیا دځمکي ترپایه به دده حکم جاری وی (۹) هغه څوک چې دبیابان او سیدونکي دي هغه ته به غاړه ایږدی او دهغه دښمن (۱۰) دلمدو او جزیرو پاچهان به ډالۍ راوړی او دسبا او سیب پاچا به تحفی راوړی (۱۱) ټول پاچهان به دده مخ ته سجده کوی او ټولی ډلی به دده بندګی کوی (۱۲) ځکه هغه به بې وزله او مسکین ته تسلی ورکوی او هغه چاته چې دهغه مرستندوئ نه وی (۱۳) هغه به پر بیوزله او اړو باندی مهربانی کوی او دبیوزلو ساتنه به کوی (۱۴) هغه به ددوئ ځانونه له تیری او غضب څخه ساتی ددوئ وینه به دده په نظر ډیره ارزښتناکه وی (۱۵) هغه به بریالی کیږی او سبا به هغه ته ورکول کیږی دهغه په حق کې به همیشه دعاء کیږی هره ورځ به هغه ته مبارکی ویل کیږی (۱۶) دتخم ډیروالی به په غرو په څکو باندی وی دهغه میوه به دلبنان دونی په څیر راولیږی او دښار خلک به دبیابان دوښو په شان راشنه کیږی (۱۷) دهغه نوم به دتل لپاره پاته وی ترڅو پوری چې لمروی دهغه نوم به خپوروی خلک به دده په وجه خپل ځان ته مبارک وایې ټول قومونه به هغه ته مبارک وایې (۱۸) خداوند خدا او اسرائیل چې یوائې عجیبه کارونه کوی مبارک دې (۱۹) دهغه لوړ نوم به دتل لپاره مبارک وی ټول جهان به دده دلوی څخه آبادوی آمین آمین (۲۰) دداؤد بن یسې دعاګانی پوره سوی (دوه اویایم زبور پای)

درنولوستونکو تاسو خپله پریکړه وکي چې په دې زبور کې دداسی پیغمبر ؑ دراتلو زیری ورکول سوی دی چې هغه ته دنبوت او رسالت سره دالله ﷻ له لوری پاچهی او حکومت هم ورکول کیږی او دهغه واک او باچهی به دومره فراخه وی چې دریاب او وچی ته به رسیدلی وی په انصاف او رښتیا به دهغه حکم جاری وی بیوزله او اړمنو خلکو ته به ددوئ حق ورکوی او تیری کونکي به ټوټې ټوټې کوی او دهغه دښمنان به له ده څخه ویریږی او ددنیا پاچهان به دده لپاره تحفی راوړی او ټولی قبیلی به دده پیروی کوی له هرلوری به هره ورځ ټول قومونه دده په حق کې دعاء او مبارکی وایې او دتل لپاره به دده نوم پاته وی ترڅو پوری چې لمروی دهغه نوم به یادیږی ....

سیف لودین کتابتون

دعقل لرونکي دي په سرسري نظرورته وګوري چې دا يادسوي صفتونه په مسيح عليه السلام کې نه وو بلکې يوازې په رسول الله ﷺ کې وو الله تعالى نبي کريم ﷺ ته له نبوت سره دسليمان عليه السلام اوذوالقرنين په شيرحکومت ورکړچې په هغه کې دقوموپه منيځ کې داسې انصاف اورښتياجاري سوي دي چې دنياتراوسه داسې رښتيااوانصاف نه ليدلي اونه اوريدلي دي اومظلومان له تيری کونکوبدله واخيسته اوځمکه يې له تيری اوغضب څخه پاکه کړه په وچه اوسيندپه صحراءاوبيابانوکې دده حکومت خپورسوی دی اودښمن له ده څخه ويريږی اولوی لوی پاچهانودنبي کريم ﷺ مخ ته پرسجده پريوتلي دي اوتحفې اوډالۍ يې نبي کريم ﷺ ته راليږلي دي اودرښتيااوانصاف جاري کولولپاره جهادغزاګانی اوسريه وسوی او دجاري سوی دين انصاف اوعدالت دابوبکرصديق رضي الله عنه اوعمرفاروق رضي الله عنه په شيررښتينواوانصاف کونکو بيرغ وړونکو دکمال حدته ورسوی

اودتل لپاره چې ترڅوپوری لمراوسپوږمۍ وی دده نوم مبارک په هرآذان اولمانځه اوهره دعاء اوهرمنبر اومحراب کې اخيستل کيږی بلکې په خطبونصيحتوکې دده مبارک له نامه سره دده دخلفاء راشدين رضي الله عنهم نوم هم اخيستل کيږی چې په دنياکې يې دحق اوانصاف اوعدالت بيرغ پورته کړی دی

اې ديهوداونصاری علماء داناچيزبنده تاسوته درښتيااوانصاف بلنه درکوی اوپوښتنه درڅخه کوی چې دکوم رښتيااوعدالت جاري کولويادونه چې په دې زبورکې سوی ده تاسودالله ﷻ په خاطرداراته وواياست چې داپرته له محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم په بل چاکې تاسوليدلي دي داصفتونه خوپه عيسی عليه السلام اودهغه په حواريين باندی برابريدل په هيڅ صورت سره نه سي کيدای

غوښتنه :دعلماء کرامو‌پ ‌ ذمت کې دايوه غوښتنه لرم چې دزبور باب ۱۱۲،، اوباب ۱۱۳ددې دوه اويايم ۷۲ باب تتمه دی په هغه کې دنبي کريم ﷺ دملګرودصفتويادونه سوی ده هغه هم وګوری اودتشريح اوتطبيق لپاره ازالة الاوهام فارسي صفحه ۴۷۰ تر صفحه ۴۷۵ تصنيف مولانارحمت الله کيرانوی قدس الله سره وګوری

نهم : دملاکی عليه السلام له صحيفی څخه دريم باب اول آيت دنبي کريم ﷺ دراتلوزيری !

اوګوره زه خپل رسول راليږم اُوزمامخکې لاره سيده کوی اوهغه خدای چې دهغه په لټون کې ته يې هودختنه رسول چې په هغه سره ته خوشاليږی هغه به په خپل شکل کې ناڅاپه راسی ګوره هغه به رښتياراځي دټولو فوځونو خدای فرمايي دهغه دراتلوپه ورځ به څوک ايسارسی اوکله چې هغه ښکاره سی څوک دی چې وبه دريږی آه

په دې زيری کې دداسې رسول دراتلوويادونه سوی چې هغه به سنت وی له همدې کبله

سیف لودین کتابتون

دنبی کریم ﷺ ترنبوت مخکې به یهودو اونصاری درسول الختان دښکاره کیدوانتظار کوي لکه چې دصحیح بخاری په حدیث دهرقل کې راغلی دی مګر اوس یهودیانو او نصاری له هغه زړونسخوڅخه درسول ختان پرځای رسول العهدلفظ لیکلی دی مګر په دې توری کې هم له عهدڅخه دختنی عهدمراددی لکه چې دسفرپیدائش باب ۱۷ آیت ۱۰ څخه معلومیږي هغه دادی : اوزماژمنه کومه چې زمااوستاپه مینځ کې ده اوستاڅخه وروسته ستادنسل په مینځ کې ده هغه ته یادلره نودادی چې ستاسوڅخه دې دیوه نارینه هلک ختنه (سنت کیدل) وکړل سی اوته دخپل بدن دقلعی ختنه وکړه اودابه دهغه ژمنی نښه وی کومه چې زمااوستاپه مینځ کې ده

لسم زیری دحبقوق ؈ له صحیفی څخه باب ۳ آیت ۳ : دنبی کریم ﷺ دراتلولسم

الله ﷻ دیتمان څخه اوهغه چې قدوس پاک دی دفاران له غره راغلی دهغه له دبدبی څخه اسمان پټ سو اوځمکه دهغه له حمدستایلوډکه سوه دهغه ځلیدل درڼاپه شیروو دهغه دلاس څخه وتله انتهی .

دازیرئ دسروردوعالم محمدصلی الله علیه وسلم په حق کې ډیر روښانه زیرئ دی پرته له رسول الله ﷺ څخه بل هیڅ پیغمبردفاران له غره ندی رالیږل سوی اوځمکه هم دده په ستایلوآباده سوی ده لکه چې دهردوست اودښمن په ژبه باندی دنبی کریم ﷺ نوم محمداواحمدﷺ دی اوپه یوه زړه عربی نسخه کې دالفظ دی (وامتلأت الارض من تحمیداحمد) یعنی ټوله ځمکه داحمد مجتبی صلی الله علیه وسلم له ستایلوډکه سوه ،، مګر دکین په وجه دوئ داحمدﷺ لفظ له نسخولیری کړی دی اوپه نوی نسخوکې داحمدﷺ لفظ نه دی راوړی اوداخبره ترلمرروښانه دی چې دنبی کریمﷺ دهدایت رڼاپه ټوله نړۍ کې وځلیده .

یوولسم : دیسعیاه ؈ له صحیفی څخه باب ۲۱ آیت ۶ ــ ۷) دنبی کریم ﷺ زیری

خدای ماته دافرمایلی دی چې ولاړسه ساتونکي کښینوه څه چې ووینی نوووایه هغه سپاره ولیدل چې له معبدو څخه دوه راتلل اوپه خروباندی هم سپاره ولو اواوښانوباندی هم سپاره ولو ، انتهی .

په دې زیری کې یسعیاه ؈ دووپیغمبرانوته اشاره کړی اول عیسی ؈ ته دخره په سپرلۍ سره اشاره سوی ده ځکه عیسی ؈ په خره باندی سپوربیت المقدس ته داخل سو دویم نبی کریمﷺ ته اشاره دی داوښ په سپرلۍ سره ځکه رسول اللهﷺ ته اشاره دی یو خو اوښ دعربوځانګړی اومشهوره سورلۍ ده اوبل داچې کله رسول اللهﷺ مدینه منوری ته تشریف راوړی نوپه دغه وخت کې په اوښ باندی سپوروو

اوبیاپه نهم آیت کې دبابل دسقوط یادونه سوی اوښکاره خبره ده چې دبابل سقوط دخلفا راشدینوپه وخت کې سوی دی دمسیح ؈ اوحواریینوپه وخت کې سقوط نه دی سوی.

سیف لودین کتابتون

په دې باب کې د عرب په اړه الهامي خبرې يادې سوې دي لکه چې په آيت ۱۶ کې راغلي دي ۱۶: الله تعالى ماته داوفرمايل چې پوره په يوه کال کې به دقيدار ټوله دبدبه زور ختميږي ۱۷: آيت او دغشي ويشتونکو څخه چې څوک پاته سي دقيدار زړور خلک به بنکته کيږي چې خدائ داسرائيلو خداى داسې وفرمايل،، انتهى،،

او همداسې وسو لکه څنګه چې په دې صحيفه کې ويل سوي دي څکه تر هجرت پوره يو کال وروسته دبدر په غزاکې دقيدار دزامنو يعني قريشو ټوله دبدبه او زور ولاړې ددوئ او يا ۷۰ مشران ووژل سو او اويا تنه بنديان سوه او ډېر ژوبل سوه او قيدار د اسماعيل عليه السلام له نسل څخه دى دا په تورات او نورو تاريخو کې منل سوى خبره دى او دنصارى علماء په نزد هم منل سوى دى ..

دنبي کريم ﷺ دراتلو ۱۲ زيرئ ديسعياه عليه السلام په صحيفه کې باب ۲۴ آيت ۲۳)

او سپوږمۍ به په بنوريدو وي اولمر به شرمنده وي چې په کوم وخت کې به رب الافواج دصيهون په غره باندى او په يروشلم کې دخپلو دوستانو دډلو ومخ ته له دبدبې سره پاچهي کوي انتهى،

دنبي کريم ﷺ په راتلو سره همداسې وسو څکه نبي کريم ﷺ په ډيره دبدبه سره پاچهي وکړه او سپوږمۍ له خپل اصلي حالت څخه بدله سوه دوې ټوټې سوه لکه چې الله تعالى فرمايي ﴿اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ﴾ (۱آيت سورة القمر) قيامت نژدې سو او سپوږمۍ دوې ټوټې سوه... اولمر هم شرمنده سو لکه چې ويل کيږي دخيبر په غزاکې لمر دلمر لويدو له لورى راوختى

دنبي کريم ﷺ دراتلو ۱۴ زيرئ ديسعياه عليه السلام په صحيفه کې باب ۲۸ آيت ۱۳)

نو دالله ﷻ کلام به له هغه سره وي حکم په حکم باندى قانون په قانون باندى لږ دلته لږ هلته او دقرآن عزيد نازليدل هم همداسې وسو لږ لږ نازل سوى دى او انجيل خود عيسانو په نزد دالله ﷻ له لورى نه دى نازل سوى بلکې هغه حواريينو جوړ کړى دى ، اوله يادى سوى صحيفى څخه دا معلوميږي چې ددغه کتاب دالله ﷻ له لورى څخه نازليدل حتمي دى او زموږ په نزد کوم انجيل چې عيسى عليه السلام ته ورکړل سوى دى هغه ټول په يوه ځل نازل سوى دى دقرآن کريم په شان لږ لږ نه دى نازل سوى لکه چې الله تعالى فرمايي ﴿وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَىٰ مُكْثٍ وَنَزَّلْنَاهُ تَنزِيلًا﴾ (۱۰۶آيت سورة الاسراء) ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا﴾ (۳۲آيت سورة الفرقان)

ژباړه : قرآن کريم موږ جلا جلا نازل کړى دى ددې لپاره چې ته يې دخلکو په مخکې په آرام سره ولولى او موږ قرآن لږ لږ نازل کړى دى کافران وايي چې قرآن ولى په يوه ځل نه دى نازل سوى ته ورته ووايه چې موږ داسې نازل کړى دى ددې لپاره چې ستا زړه په ډاډه کړو په دې وجه موږ په آرام سره تاته واوروي ..

دنبي کريم ﷺ دراتلو ۱۵ زيرى ديسعياه عليه السلام په صحيفه کې باب ۴۲ لومړئ آيت

سیف لودین کتابتون

کوره زمابنده چې ماهغه تیار کې زما غوره بنده دی له هغه څخه زمازړه خوشاله دی ماخپل روح په هغه کې ایښی دی هغه به د قومونو په مینځ کې عدل برابری راولی ،،

دازیرئ هم دنبی کریم ﷺ دراتلو لپاره دی ځکه زمابنده داد عبدالله معنی دی او عبدالله هم دنبی کریم ﷺ له نه نیوی ۹۹ نومونو څخه یو نوم دی لکه چې په قرآن کریم کې راغلی دی

﴿وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا﴾ ۱۹ آیت سورة الجن) کله چې دالله بنده ودریدی او په قرآن کریم ډیر ځله نبیٰ کریم ﷺ دعبد په لقب سره نومول سوی دی لکه چې الله تعالی فرمایې (سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى (۱ آیت سورة الاسراء) مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا (۲۳ آیت سورة البقرة)

ژباړه : پاک دی هغه ذات چې خپل بنده یې بوتلی ،، له هغه څه څخه چې موږ په خپل بنده باندی نازل کړی دی .. نصاری وایې چې دازیرئ دعیسی ﷺ په حق کې دی ، مګر عیسی ﷺ دنصاری په عقیده دالله ﷻ بنده نه دی بلکې خدای او معبود دی نو ځکه عیسی ﷺ ددې مصداق نه سی کیدای ، او غوره بعینه دمصطفی معنی دی مصطفی دنبی کریم ﷺ له مشهورنومونو څخه دی او له هغه څخه زماړه راضی دی داترجمه بعینه دمرتضی دی مرتضی ﷺ هم دنبی کریم ﷺ له مشهورونمونو څخه یو نوم دی

اودنصاری په عقیده ددې جملی مصداق یعنی چې له هغه څخه زماړه خوشاله دی عیسی ﷺ نه سی کیدای ځکه ددوئ په فاسده عقیده عیسی ﷺ وژل سوی او په دارسوی دی او څوک چې ووژل سی او په دارسی هغه دنصاری په عقیده ملعون دی، لکه چې دګلیتون له دریم خط دیارلسم درس څخه معلومیږی هغه وایې : عیسی ﷺ ذمه واری واخیسته مسیح ﷺ زموږ لپاره لعنتی جوړسو هغه موږ د شریعت له لعنت خلاص کړو ځکه لیکی چې څوک په لرګی باندی وځړول سی هغه لعنتی دی ،، انتهی) دملعون ګلیتون له وینا څخه ښکاره معلومیږی چې له عیسی ﷺ څخه دنصاری په فاسده عقیده باندی معاذالله خدای ﷻ راضی نه دی ..

لنډه داچې محمد مصطفی احمد مرتضی صلی الله علیه وسلم رښتیا هم دالله ﷻ غوره بنده اورسول دی او له هغه څخه الله ﷻ خوشاله او راضی دی او دسیرت په کتابو کې درسول الله ﷺ یو نوم مرتضی او راضی هم لیکل سوی دی په دې وجه رضی الله تعالی عنه دنبی کریم ﷺ دملګرو خاص نښه ده الله تعالی فرمایې (لَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ (۱۸ آیت سورة الفتح) ﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ (۲۹ آیت سورة الفتح

سیف لودین کتابتون

ژباړه: ربښتیاهم الله تعالی له مؤمنانوراضی سو کله چی دوئ ترونه لاندی ستاسره بیعت کوی... محمد ﷺ دالله ﷻ رسول دی اوڅوک چی دهغه سره دی دوئ په کافرانوباندی ډیر سخت اوپه خپل مینځ کې مهربانی کونکې دی ته به دوئ په رکوع اوسجده کولو دالله ﷻ په مهربانی اوخوشالی غوښتلوباندی وینی دنیکۍ اوپرهیزګاری نښی ددوئ په مخانوکې دسجدی په اثرښکاره دی دغه دی ددوئ شان چی په تورات کې یادسوی دی..

اوله روح څخه مراد وحی الهی ده: چی په هغه باندی دروحونواوزړودژونددارومدار دی لکه چی الله تعالی فرمایې ﴿وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ اَمْرِنَا﴾ (۵۲آیت سورة الشوری)

اودغه رنګه موږتاته وحی لیږلی په خپل حکم سره

نوالحمدلله چی الله تعالی په نبی کریم ﷺ باندی دمړوزړودژوندلپاره یوروح یعنی قرآن عظیم نازل کی چی په نازولوسره یې مړه زړونه ژوندی اودزړوبیشمیره ناروغانوته شفارورکړه لکه چی الله تعالی فرمایې ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَاۤءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ (۸۲آیت سورة الاسراء) ژباړه: اوموږنازل کړی دی قرآن چی دمؤمنانولپاره شفاء اورحمت دی

اوله پیغمبری سره سره نبی کریم ﷺ دالله ﷻ په حکم عدالت هم جاری کړی دی لکه چی الله تعالی فرمایې ﴿فَلِذٰلِكَ فَادْعُ وَاسْتَقِمْ كَمَاۤ اُمِرْتَ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَاۤءَهُمْ وَقُلْ اٰمَنْتُ بِمَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنْ كِتٰبٍ وَاُمِرْتُ لِاَعْدِلَ بَيْنَكُمْ﴾ (۱۵آیت سورة الشوری) ودې خواته بلنه ورکوه اوپه دی باندی کلک اوسیږه لکه څنګه چی تاته حکم سوی دی اوددوئ دغوښتنوپیروی مه کوه اووایه ماایمان راوړی دی دالله ﷻ په نازل سوی کتاب باندی اوماته حکم سوی چی ستاسوپه مینځ کې عدل اوانصاف جاری کړم..

عدالت اوحکم جاری کول دزور غوښتنه کوی ځکه داصفت هم دنصاری په فاسده عقیده په عیسی علیه السلام کی نسته ځکه دنصاری په نزدعیسی علیه السلام دومره ځواک نه درلودی چی خپل ځان یې دوژلواودارکولوله ځایه ساتلی وای دبدبه خوپریږده

دتیرسوی باب په دویم آیت کې راغلی دی: چی هغه به ناری اوچیغی نه وهی اوخپل آواز به نه پورته کوی اوخپل آواز به په بازاروکې نه اوروی::: داجمله هم په نبی کریم ﷺ باندی پوره صادقیږی لکه چی دصحیح بخاریؒ باب کراهة السخب فی الاسواق کې له عطاء بن یسار رحمه الله څخه روایت سوی دی وایې چی ماله عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چی درسول الله ﷺ هغه صفتونه چی په تورات کې یادسوی دی ته راته ولوله؟ عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه په ځواب کې دنبی کریم ﷺ ډیرصفتونه یادکړه یوشمیرله هغو څخه دادې (لیس بفظ ولاغلیظ ولاسخاب فی الاسواق) په تورات کې راغلی دی چی هغه نبی

سیف لودین کتابتون

او دیادسوی باب په دریم آیت کې راغلی دی : هغه به عدالت جاري کوی او دتل لپاره به پاته وی .. یعنی هغه نبی به دحکومت اومساوات خاوندوی اوله عیسی علیه السلام سره خودحکومت نوم هم نه وو اونه له کافرانوسره دجهادامرورته سوی دی اونه یې په تیری کونکوباندی عدالت جاري کړی دی نوځکه ددې زیری مصداق رسول الله ﷺ کیدای سی او دتل پاته کیدوشریعت یوازې درسول الله ﷺ شریعت دی چی دقیامت تروړځی پوری پاته وی لکه څنګه چی درسول الله ﷺ شریعت تراوسه پوری خوندی پاته دی اوان شاء الله دتل لپاره به پاته وی هیڅ یوامت په دې هکله له شریعت محمدیه سره نه سی برابریدای اونه سیالی ورسره کولای سی هیڅ امت دخپل نبی شریعت اودهغه دخبرواوکاروساتنه کړی بلکې ددې لسمه برخه یې هم نده کړی لکه شریعت محمدی چی کړی دی اودشریعت دتل پاته کیدوځخه وختم نبوت ته اشاره دی ځکه دشریعت تل پاته کیدل هغه وخت کیدا ی سی چی ترده وروسته بل نبی نه وی ځکه که داسی سی نودراتلونکي نبی علیه السلام شریعت به دده دشریعت منسوخ سی نوخوتل پاته نه سو بلکې منسوخ سوترمعلوم وخته پوری سو

اودتیرسوی باب په څلورم آیت کې راغلی دی : دهغه زوال به نه وی اونه به ترڅوپوری چی رښتیاپه ځمکه باندی قائم نه کړی .. اوهمداسی وونبی کریم ﷺ هغه وخت وفات سو چی رښتیااوصداقت پرځمکه باندی واک پیداکي اودالله ﷻ له لوری داسی وفرمایل سو

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا (۳آیت سورة المائدة)

نن ورځ ماستاسولپاره ستاسودین پوره کي اوماپه تاسوباندی انعام پوره کي اوماستاسولپاره دین اسلام غوره کي ..

اوزیریځ نازل سوی ﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا﴾آیت سورة الفتح) او. إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ (سورة النصر آیت ۱) ژباړه : رښتیاهم موږتاته روښانه فتح درکړه اوکله چی دالله ﷻ مرسته اوفتح راغله وعده پوره سوه

کیدای سی چی له رښتیاقائمولوځخه دابوبکرصدیق رضی الله عنه خلافت ته اشاره وی لکه چی دیوشمیرعلماء رایه دی ځکه رښتیادصدیق معنی دی اودصدق اطلاق په ابوبکرصدیق رضی الله عنه باندی داسی دی لکه دعدل اطلاق په عمرفاروق رضی الله عنه باندی نبی کریم ﷺ وفات دناروغی په وخت کې ابوبکرصدیق رضی الله عنه امام کړی وو داهم دابوبکرصدیق رضی الله عنه وخلافت ته اشاره وه چی ترماوروسته خلیفه به ابوبکرصدیق رضی الله عنه وی ددې لپاره چی صدق اورښتیاپه ځمکه کې واکمن سی ..

دهمدې باب په نهم آیت کې راغلی دی : ستالاس به نیسم اوستاساتنه به کوم آه داجمله هم پرته له رسول الله ﷺ پربل هیچانه صادقیږی ځکه الله تعالی د نبی کریم ﷺ دسا

سیف لودین کتابتون

تلو ژمنه کړی (وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ (۶۷آیت سورة المائدة) الله تعالی به تاله دښمنانو خوندی ساتی
دالله ﷻ داوعده پوره سوه الله تعالی دنبی کریم ﷺ ساتنه وکړه اودنصاری په فاسده
عقیده خود عیسی علیه السلام ساتنه نه ده سوی
اوبیاپه شپږم آیت کې چی دکوم نوریادونه سوی ده (دخلکودعهداوقومونورڼاتاته
درکوم) له دې څخه دهدایت رڼااودشریعت اسلامی رڼامراددی لکه چی دقرآن کریم په
ډیروځایوکې ددې نوریادونه سوی ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُم بُرْهَانٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَأَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُوراً
مُّبِيناً﴾ ۱۷۴آیت سورة النساء) فَالَّذِينَ آمَنُواْ بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُواْ النُّورَ الَّذِيَ أُنزِلَ مَعَهُ أُوْلَـئِكَ هُمُ
الْمُفْلِحُونَ﴾ ۱۵۷آیت سورة الاعراف) ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِداً وَمُبَشِّراً وَنَذِيراً﴾ (۴۵)﴿وَدَاعِياً إِلَى اللَّهِ
بِإِذْنِهِ وَسِرَاجاً مُّنِيراً) ۴۶آیت سورة الاحزاب) ﴿يُرِيدُونَ لِيُطْفِؤُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ
الْكَافِرُونَ﴾ ۸آیت سورة الصف)

ژباړه : اې خلکوتاسوته دالله ﷻ له لوری یوښکاره دلیل راغلی دی اوموږتاسوته یوه
روښانه رڼاقرآن کریم نازل کړی دی
نوکوم خلک چی په هغه باندی ایمان راوړی اودهغه مرسته وکړی اودهغې رڼاپیروی
وکړی کومه چی له ده سره نازله سوی دی همدا خلک به بریالی وی
اې نبی علیه السلام موږ ته زیرئ کونکی اوویرونکي اودالله ﷻ په حکم سره الله ﷻ ته بلونکي
اودسمی لاری روښانه ډیوه لیږلی یې
کافران غواړی چی دخپلو خولوپه پوکولوسره دالله رڼامړه کی اوسره له دې چی الله ﷻ به
خپل نور هرومروپوره کوی که څه هم کافران یې بد ګڼی ..
اودصحیفی په اتم آیت کې راغلی دی (اوزه خپله دبدبه بل چاته نه ورکوم) داجمله هم
ټکی په ټکی درسول الله ﷺ ددې ارشادموافق ده (اعطيت مالم يعط احد من الانبياء قبلی) ماته
دالله ﷻ له لوری هغه څه راکول سوی دی چی مخکی تیروسویوانبیاء علیهم السلام ته
هیچاته نه دی ورکړل سوی ،، مثلا ختم نبوت ، اودرسالت عموم نبی کریم ﷺ د ټولو
خلکولپاره رالیږل سوی دی مقام محمودیعنی شفاعت کبری اوداوواسمانومعراج ختل
داغوره صفتونه اوکمالات پرته له نبی کریم ﷺ بل یوه نبی ته نه دی ورکړل سوی دادبدبه
دنبی کریم ﷺ پرته بل هیچاته نه ده ورکړل سوی اودغه رنګه الله تعالی نبی کریم ﷺ ته هغه
ښکاره علامی ښه خویونه اوغوره عادتونه اوعلم اومعلومات ورکړی دی چی مخکې یې
وهیڅ نبی اورسول علیه السلام ته نه دی ورکړی په ځانګړی ډول بیادقرآن کریم معجزه خوداسی
روښانه دی چی دقرآن کریم منونکي اونه منونکی ټولو سرونه ورته ټیټ کړی دی .
ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ﴾ ۲۱آیت سورة الحدید)

سیف لودین کتابتون

دادالله ﷻ فضل دی او هغه چی وغواړی هغه چاته يې ورکوی او الله ﷻ لوی فضل ورکونکی ذات دی
او پهيولسم آيت کې راځی (دعربو په بيابان کې اوددوئ په کليوکې دقيدار په آباد و سيموکې به خپل آواز لوړوی اودسلع اوسيدونکي به له غرواوبيابانوآواز کوی دوئ به دالله ﷻ جلال اولوی والی ښکاره کوی ،، انتهی)
قيدار داسماعيل ﷺ ديوه زوی نوم دی چی دنبی کريم ﷺ له نيکه ګانوڅخه دی اوددې بيابان څخه دفاران بيابان مراددی هغه ځای چی ابراهيم ﷺ هاجره اواسماعيل ﷺ پکی پری ايښی وه لکه چی دکتاب پيدائش له يويشتم باب آيت موږدرته بيان کی اوداهغه ځای دې چيری چی اوس مکه معظمه آباده دی اودقيدار له آبادوسيموڅخه هم مکه مکرمه مراددی اوپه همدی ځای کې داسماعيل ﷺ اولادونه آبادسوی دی ..
لنډه داچی په دې جمله کې دنبی کريم ﷺ دزوکړی ځای ته اشاره دی يعنی رسول الله ﷺ به په مکه مکرمه کې پيداکيږی اودده امت به په دې بيابان کې لااله الاالله اوالله اکبر اولبيک اللهم لبيک په نعروسره دالله ﷻ لوی والی ښکاره کوی په کور اوسفرکې به دالله لويی بيا نوی دايوائي دامت محمديه شعاردی په آذان اوتکبيرسره به لمونځ کوی اونصاری خوناقوس وهی اولمونځ کوی اودتکبيراودالله ﷻ ديووالی پرځای باندی ددرې خدايانواودخدای دجسم ناری وهی وايې چی الله دمريم په نس کې جوړسو اودبندګانودخلاصون لپاره په داروځړول سو (موږالله ﷻ ته پناه وروړوله داسی عقيدی اوپه دې زيری کی ودې ته هم اشاره سوی چی هغه نبی به دقيدار بن اسماعيل ﷺ له اولادوڅخه وی نوځکه ددې زيری مصداق دبنی اسرائيلوله پيغمبرانوڅخه هيڅ يونبی نه سی کيدای ځکه دوئ ټول داسرائيل ﷺ له اولادوڅخه دی نه دقيدار بن اسماعيل ﷺ له اولادوڅخه او سلع دمدينی منوری ديوه غره نوم دی په دې سره درسول الله ﷺ دهجرت وځای ته اشاره دی ، والله سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتم واحکم ..
خلاصه دکلام دادی : چی داآيتونه له سره ترپايه په ډاګه داوايې چی هغه راتلونکي نبی به دالله ﷻ غوره اوچاڼ سوی بنده وی اودټولو خلکوپيشوا به وی اودټول جهان دلارښوونی منصب به ورکول کيږی اوهغه نبی به دقيدرا له زامنوڅخه وی يعنی داسماعيل ﷺ له اولادوڅخه به وی نه له بنی اسرائيلوځکه قيدار دټولو په اتفاق سره داسماعيل ﷺ دزوی نوم دی ،،، نوددې خبری مصداق عيسی ﷺ نه سی کيدای ځکه هغه له بنی اسرائيلوڅخه دی له بنی قيدار يعنی بنی اسماعيلوڅخه نه دی

سیف لودین کتابتون

او ټول جهان د پیشوا او لار ښوونی مرتبه هم یوائحی نبی کریم ﷺ ته روکړل سوی ده نه وه عیسی ﷺ ته ځکه په انجیل کې راغلی دی چې عیسی ﷺ یوائحی د بنی اسرائیلو لار ورکوو کړوته رالیږل سوی دی یعنی د عیسی ﷺ نبوت عام نه دی او نه عیسی ﷺ حکو مت کړی دی او نه یې په قوموکې عدالت جاری کړی دی نو د دې خبری څخه عیسی ﷺ څنګه مراد کیدای سی په دې خبره کې چې څومره صفات یاد سوی دی هغه ټول په سیدنا و مولانا محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم کې شته نو ځکه یوائحی نبی کریم ﷺ مراد کیدای سی ..

دنبی کریم ﷺ دراتلو ۱۶ زیری د یسعیاه ﷺ په صحیفه کې باب ۲ درس ۱۲)

۱۳ : او ګوره زمابنده به بختوروی هغه به پورته اوستایل سوی وی او ډیر به لوړوی ۱۴ : څنګه چې ډیروته ولیدی حیران سو د هغه مخ به تر هر بشر ډیر او د هغه شکل به تر نو رو انسا نانو ډیر ښائسته وی ۱۵ په هغه شان به هغه په ډیرو قوموباندی برید ونه کوی او پاچهان به د هغه په مخکې خپله خوله بندوی ځکه له هغه به هغه څه وینی چې دوئ ته به نه وی ویل سوی او نه دوئ اوریدلی وی له هغه به پوښتنی کوی (پای)

په دې زیری کې زماله بنده څخه رسول الله ﷺ مراد دی ځکه د رسول الله ﷺ په بختور کیدو او لوړ ستایل کیدو کې یوه ذره شک او شبه نسته اوستایل سوی بعینه د محمد د لفظ معنی دی، الله تعالی رسول الله ﷺ ته هغه لوړوالی ورکړی دی چې هغه نه چا اوریدلی او نه چالیدلی دی نصاری دی فکرو کړی چې آیا عیسی ﷺ ته دالوړوالی او بخت ورکول سوی دی اوستاسو په فاسده عقیده خو عیسی ﷺ په دارسوی دی تاسو وایاست چې په دار ځړیدل عیسی ﷺ سپک او ذلیل کړ، مسلمانان خو د دې سپکوالی څخه بیزاره دی چې دالله ﷻ یو غوره بنده د دې سپک او ذلیل سی کوم چې نصاری یې د ګمانی خدای لپاره ثابتوی .

د مسلمانانو عقیده دادی چې عیسی علی نبینا وعلیه الصلوة والسلام دالله ﷻ غوره بنده وو الله تعالی هغه اسمان ته ژوندی خیژولی دی او د عیسی ﷺ د ښمنان یې ناکام کړی دی اې شرمیدلو عیسایانو تاسو د عیسی ﷺ په اړه داعقیده لری چې هغه خدای دی او بیا دا وایاست چې هغه سپک او ذلیل سوی دی العیاذ بالله موږ الله ﷻ ته پناه وړو له داسی فاسدی او بد بویه عقیدی ..

دنبی کریم ﷺ دراتلو ۱۷ زیری د یسعیاه ﷺ له صحیفی څخه باب ۶۰ لومړی درس !

۱ : پاڅه رڼا سه اې د مکی ځمکی ستا رڼا راغله او دالله ﷻ لویی په تاباندی طلوع کړی ده راخیژولی ده ۲ : تیاره به په ځمکه باندی خوریږی مګر خدای په تاباندی راښکاره کیږی

سیف لودین کتابتون

او د هغه لویې به په تاباندې ښکاره کیږي ۳ : او قومونه به ستا په رڼاکې او باچهان به ستا د
راختلو په روښنایې کې روانیږي ... او س د مدینې منورې ځمکې ته وینا کوي
۴ خپلې سترګې پورته کړه څلور و خواوو ته وګوره هغه ټول خلک را یو ځای کیږي هغه
ستاخواته راځي ستا زامن به له لیرې ځخه راځي او ستالونې به په غیږو کې پورته کیږي ۵ :
نو بیا به ته ووینې او روښانه به سې هو ستازړه به ښکته کیږي او پراخه به سي ځکه د سیند
زیاتوالي به ستاخواته بیرته راګرزي او د قوموشتمنې به ستا سره ډیره وي ۶ :
د اوښانو قطارونه او مدیان او عیفه اوښان به راځي او ستا شاوخوا به بې شمیره وي هغه
ټول چې د سبادې را به سي هغه به سروه او لبان راوړي او د الله ﷻ د صفتو زیرې به روکوي ۷
د قیدار ټول پسونه به ستا سره یو ځای کیږي د نبیط پسونه به ستا په خدمت کې راځي هغه
به زما د خوښې په وجه زما د قربانۍ پر ځای باندې خیژي او زه به د خپلې د بدبې کورته عزت
ورکوم ۸ : دا څوک دي چې د بدلي په څیر په الوتلو راځي او د کوترو په څیر خپل ځای ته ځي
۹ رښتیا هم د سیند هیوادونه زما لاره او د ترسیس رحلب بیړۍ به اول راځي ستا زامن به د دې
رویې سره ټول د لیرې څخه الله ﷻ ستاخدای او د اسرائیل د قدوس نوم لپاره راوړي ځکه
هغه تاته عزت درکړی دی ۱۰ او د پردو خلکو زامن به ستا دیوالونه پورته کوي او د دوئ
باچهان به ستا خدمت کوي که څه ما په خپل قهر سره ستا په وهلو باندې ستا په مهربانی سره
په تاباندې رحم کوي ۱۱ او ستا دروازې به خلاصې پاته وي هغه به شپه او ورځ هیڅ نه
بندیږي د دې لپاره چې د قومونو دولتونه تاته راوړي او د دوئ باچهان په شان او د بد به سره
۱۲ هغه قوم او هغه هیواد چې ستا خدمت نه کوي بربادیږي به هو هغه قومونه به په یوه خل
هلاکیږي ۱۳ د لبنان لویې به تاته راځي سرو او صنوبر به د دې لپاره چې زه خپل پاک ځای
ښائسته کړم او د خپلو پښو چوکۍ ته ښائست ورکړم ۱۴ او ستا د لوټ تالان کونکو زامن به
ستا مخ ته ولاړ راځي یا هغه ټول چې ستا سپکاوی یې کړی دی ستا په پښو کې به پریوزي
او د خدای د ښار د اسرائیل د قدوس صیهون به ستا نوم ایږدی ۱۵ د دې په بدله کې چې
پریښودل سوی یې او ستا څخه نفرت سوی دی داسې چې هیڅ انسان ستا خواته نه تیریدی
زه به تاته د تل لپاره عزت درکوم او د پیړیو پیړیو نسلونو سردار دی جوړوم ۱۶ او ته به پوه
سی چې زه الله ﷻ ستا ساتونکئ او زه د یعقوب قادر ستا خلاصونکي یم ۱۷ زه به د پیتل په
بدله کې سره راوړم او د اوسپینې په بدله کې او د لرګی په بدله کې پیتل او د کاڼو په بدله کې
اوسپینه او زه به ستا واکمنو ته سلامتي او ستا عالمان به رښتینې جوړوم ۱۸ مخ ته به
هیڅکله ستا په ځمکه کې د تیرې آواز نه اوریدل کیږي او ته به ستا په سرحدونو کې د تباهې
او بربادئ ته د خپلو دیوالونو نوم نجات او د خپلو دروازونو نوم ستاینه ایږدی ۱۹ او ستا مخکې به
ستا رڼا په ورځ کې د لمر او په شپه کې د سپوږمۍ څخه نه وي بلکې الله ﷻ به ستا همیشه

سیف لودین کتابتون

نور اوستاخدای به ستاجلال وی ۲۰ ستالمربه بیاهیڅکله نه لویږی اوستادسپوږمی لویدل به نه وی ځکه خدای به ستاهمیشه نوروی اوستادغم ورځ به آخری وی ۲۱ اوستاخلک به ټول رښتینی وی دوئ به دتل لپاره دځمکی وارثان وی اوزمادلګول سوی څانګواوزمادلاس کاری ګری به ګڼي دديځ لپاره چی زمالوی والی ښکاره سی ۲۲ دیوکوچنی څخه به یوزرکیږی اوله یوسپک څخه به یوه لویه ډله جوړیږی زه خدای به دهغه په وخت کښ داټول هرڅه تیزوم (شپیتم باب پای ته ورسیدی)

(۱) ددي باب په لومړی آیت کښ مکی معظمی ته ویناده اودهغې روښانه رڼاکیدوزیری دی اودارڼادرسول اللهﷺ دنبوت رڼایادقرآن کریم روښانه رڼامراددی ځکه په قرآن کریم کښ نبی کریمﷺ ته نور ویل سوی دی اوخپله قرآن کریم ته نورمبین ویل سوی دی له سلګونو کلو څخه په ځمکه باندی دکفراوشرک اوبت پرستی تیاری خپری سوی وی هغه ټولی درسول اللهﷺ دنبوت اودقرآن په رڼاسره ولاړی لیری سوی (۳) امیران اوفقیران پاچهان ټول ددي رڼاپه روښنایي کښ تیرسو (۴) په ورو ورو هغه رڼادځمکی څلورو خواته خپره سوه اوبیلابیلی قبیلی ددي رڼاپه شاوخواراغونډی سوی اوپه دیرش کاله کښ دارڼا دمغرب کورو اودمشرق فارس کوروته اودکاشغراوختن اوهنداوسیند اونورسیموته ورسیدله (۵) په سلهاووزره مسلمانان پلی اوسپاره پاچهان اوغریبان دبیت الله شریف طواف ته رایوځای سو اودبیشمیره اوښانواودمدیان داوښانولیکی مکی مکرمی ته ورسیدی اوداوښانوډیر والی چی څومره په عرب اودمکی مکرمی په شاوخواکښ دی هغه دځمکی پرمخ بل ځای نسته (۶) اودالله ﷻ دحمداوستایلواوصفت کونکوډلی ډلی دکعبی شاوخواراټول سو ادمخ دځمکی پاچهانودمسلمانانودخانه کعبی اودخلکو لپاره په سلهاووزره درهم اودینارډالی په ډول راولیږل (۸) اومدیان دابراهیمؑ دزوی نوم دی چی دقطوار له نس څخه دی اومداین ښارده آبادکړی دی اوقیدار داسماعیلؑ دزوی نوم دی لکه چی دتورات دکتاب پیدائش پنځه ویشتم باب کښ صراحة یادسوی دی اودمداین خلک اوسباشاوخواټول داسماعیلؑ له اولادوڅخه دی چی په اسلام مشرف سوی دی اوهرکال په اوښانوباندی سپاره دبیت الله شریفی دحج لپاره راځی اودلَبَّیْکَ اَللّٰهُمَّ لَبَّیْکَ لَاشَرِیْکَ لَکَ لَبَّیْکَ په لوړآواز سره دښت اوبیابان ښائسته کوی اودقیدار ټول پسونه به هلته راغونډیږی اودنبیط څخه نبیط داسماعیلؑ دیوه زوی نوم دی دعربوشرقی اوشمالی قبیلی مراددی اومطلب یې دادی چی سبایعنی دیمن قبیلی اودقیدار یعنی دقریشووحشی خلک اودنبیط پسونه یعنی چاغ اوپنډ خلک به له هرلوری داللهﷻ پاکی بیانوی اوستاینه اوتهلیل اودالله ﷻ

سیف لودین کتابتون

لويږ په ويلوسره دده په خذمت کې حاضرېږي (۹) اودکوترو دسيلوپه څيربه خلک دکعبې شاوخواپه الوتلوسره رسيږي اوپرهغې به طواف کوي (۱۰) اوپه دې وخت کې چې کوم فخراولويي لبنان ته ورپه برخه دی هغه به په هغه وخت کې مکه معظمه ته ورکول کيږي اوپه هغه وخت کې به مکه مکرمه ته نقل کيږي کوم چې به دخاتم الانبياء عليهم السلام دزوکړې ځای اوداوسيدلوځای وی اودهغه ملګری به دبنی اسرائيلودانبياء نمونه وی (۱۱) اوکوم لوټ اوتالان اوبريدکونکي چې خانه کعبې ته مخه کړې په يوه ځل به هلاک کيږي لکه چې داصحاب فيل مشهور پيښه ده هيڅوک سترګی نه سی ځنی پټو لا ی (۱۲) اودالله پاک ځای يعنی کعبه به ښائسته وی هرکال به په هغې باندی پوښ اچول کيږي (۱۳) اوددې پاک ښارنوم به صيهون وی ځکه صيهون لکه څنګه چې ديروشلم ديوه غره نوم دی دغه رنګه صيهون دمکی مکرمی نوم هم دی لکه چې شيخ عبدالحق دهلوی دمدارج النبوة باب چهارم قسم اول کې ليکلی دی (۱۴) اوترده وروسته چې څوک خليفه اوواکمن سوی دی هغه هم سالم سوی اودهغه دشريعت عالم عين رښتياګرزيدلی دی (۱۵) اوددنياځمکه په رښتيااوبرابری اوسلامتياسره داسی آباده سوه چې په هيڅ ځای کې هم دظلم اوتيری غږنه دی اوريدلی سوی (۱۶) اوامت ته يې دداسی شريعت پريښو د ی اوررخصت سو چې دهغه رڼااوځلاتل ځليږي (۱۷) اودهغه نور اولويږ به تل پاته وی (۱۸) هغه رڼابه هيڅ نه لويږي اونه به زائليږي (۱۹) اودهغه نبی ټول ملګری به رښتينی و ی (۲۰) اوديوه کوچنی شخه به په زرهاوو اوله يوه کمزوری ډلی به زوروره ډله جوړيږي.

غوښتنه : له علماء څخه داغوښتنه لرم چې دوئ ديسعياه عليه السلام کتاب باب ۵۴ اوباب ۶۵ هم وګوری په هغه کې هم دنبی کريم ﷺ اودهغه دملګروصفتونه يادسوی دی (۱)

دنبی کريم ﷺ دراتلو ۱۸ زيرئ ددانيال عليه السلام دکتاب په دريم باب کې راغلی دی !

ددانيال عليه السلام دکتاب په دريم باب کې يوه اوږده قصه ياده سوی چې دهغې خلاصه موږ نو لوستونکوته وړاندی کوو :

دبابل پاچابخت نصريوغمجن خوب وليدی اوخوب يې هم هيرسو نوپه دی سره نورهم غمجن سو پاچاداپيښه دانيال عليه السلام ته ياده کړه ، دانيال عليه السلام دوحی په ذريعه هغه خوب ورته بيان کی اودهغه ترجمه اوتعبيريې هم وروښودی :

۳۱ : باچاپه خوب کې يوبت وليدی چې ډير ښائسته خوويرونکی هم دی اودباچامخ ته ولاړ دی

۳۲ : دهغه بت سرخاص دسروزرودی اودهغه سينه اومټی دسپينوزرودی اود هغه نس اوورنونه دتانبې دی اودهغه پونډی له اوسپينی دی اودهغه پښې څه داوسپينی اوڅه له خاوری څخه جوړی دی باچاداعجيبه اوناليدلی بت ته ګوری

(۱) اظهار الحق عربي تأليف مولانارحمت الله کيرانوی جلد ۲ /ص/ ۱۴۵ ، ۱۴۷ ، ازالة الاوهام فارسی تأليف مولانارحمت الله کيرانوی

سیف لودین کتابتون

۳۳: چې ناڅاپه یو کاڼی راووتی پرته له دې چې څوک یې په لاس رو کاږي هغه په خپله راووتی او ددې بت په پښو باندې ولګیدیا وهغه یې ټوټې ټوټې کې

۳۴: او هغه بت چې له اوسپنه او خاره او پیتل او سره او سپین څخه جوړ سوی وو ټوټې ټوټې کړ او د باغ د درمند د پراړه په شیر سو او هوا ته پورته والوتی ترڅو چې هغه له سترګو پناه سو او هغه کاڼی چې دا بت یې ټوټې کړ له ده څخه یو لوی غټ غر جوړ سو او ټوله ځمکه یې ونیوه (دخوب پای)

باچا خوداخوب لیدلی وو مګر هیریې سو دانیال علیه السلام ته دوحی په ذریعه دباچا خوب وښودل سو چې باچا داسی خوب لیدلی دی دانیال علیه السلام دالله دوحی برابر خوب بیان کې او باچا ته یې دهغه تعبیرو کړ ورته وې ویل چې په دې خوب کې یو تربل وروسته به پنځه واکمن راځی دسروزرو له سرڅخه دبابل باچا مراد دی اوستا باچهی دسروزرو په شیر ده اوله تا وروسته به یو بل حکومت راځی چې دسپینوزرو به وی او ستا تر حکومت به لږ کمزو ری وی تر هغه وروسته به دریم باچا راځي چې دپیتلو په شیر به وی بیا به څلورم حکومت راځی چې داوسپینی په شیر به ټینګ وی بیا به پنځم حکومت راځی چې دهغه پښی به څه داوسپینی اوڅه دخاوری وی یعنی په هغه باچهی کې به څه کمزورتیا او خفګان وی اوسپینه او خاوره به ورګډه وی یعنی هغه حکومت به کمزوری او زورور یو شان وی کله به په هغه کې قوت وی اوکله به کمزورتیا وی ددې پنځم حکومت په وخت کې به ناڅاپه دغیب له عالم څخه یو کاڼی راښکاره سی چې هغه به دچا په لاس نه وی راوستل سوی بلکې دالله ﷻ له لوری به په خپله پرته له ښکاره اسبابو له اسمان راځی اوددې آخری باچهی په پښو باندی به ولویږی او حکومت به ټوټې ټوټې کړی تردی چې دهغه دباغ درمند به دپراړه په شیر سپک وګرزی اوباد به یې له ځان سره یوسی او دهغه به هیڅ نوم اونښان نه پاته کیږی اوورو ورو به هغه کاڼی ټوله ځمکه ونیسی .. تاسو فکر وکوی چې په دې تعبیر کې درسول الله ﷺ بعثت اودهغه نبوت اورسالت اودهغه اسمانی باچهی دیو کاڼی سره ورته والی ورکړل سوی دی اودا ښودل سوی ده چې هغه کاڼی به ژر دغره په شکل بدل سی یعنی په لومړی سر کې به هغه کوچنی باچهی وی مګر ډیر ژر به په ټوله نړۍ کې خپورسی همداسی وسو چې دعمرفاروق رضی الله عنه دخلافت په وخت کې دقیصر او کسری دبدبه پای ته ورسیده اود ﴿هُوَ الَّذِی اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰي وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَي الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ﴾ ۹ آیت سورة الصف) ژمنه پوره سوه اود (هلک کسری فلا کسری بعده وهلک قیصر فلا قیصر بعده) تصدیق وسو داسمانی باچهی کاڼي په ځمکه باندی داسی وغوړیدی چې ددنیا لوی لوی باچهی یې زره زره کړی اوکوم شریعت چې په نبی کریم ﷺ باندی له اسمان نازل سوی دی هغه به تر قیامته پوری پاته وی (اظهار الحق جلد ۲ /ص / ۱۴۷، ازالة الاوهام صفحه ۵۰۷، هداية الحيارى للحافظ ابن قيم رحمة الله عليه)

سیف لودین کتابتون

دعاتکه بنت عبدالمطلب دخوب بيان !

په دې ځای کې مناسب دادی چې دعاتکه بنت عبدالمطلب خوب درته بيان کړو چې هغه خوب دسيرت په ټولو صحيح او معتبرو کتابو کې بيان سوی دی ددې لپاره چې لوستونکی ته ددې زيری په پوهه کې مرسته وکړی هغه خوب داسی وو :

دابوجهل په مشرۍ کې دقريشو دزرتنه پليويو لويه قافله اوددوه سوه اوښانو اوسل سپرو اونورو جنګی سامانو سره دجنګ بدر لپاره روان سو تررواني دومخکې عاتکه بنت دالمطلب داسی خوب وليدی :

عاتکه وايې ماخوب ليدی چې يو داوښ سپور مکی مکرمی ته راغلی اودابطح په نامه ځای کې يې اوښ چوکي اوپه ډير لوړ اوازيې داسی وويل (الاانفروا ياآل غدر لمصارعکم فی ثلاث اې غدارانو تاسو په تيزی سره خپل دمرګ اووژلو ځای ته په درې ورځو کې راووزی دې سپاره داخبره وکړه اوبيا مسجدحرام ته ولاړی اودکعبی وبام ته وختی اوهلته يې هم همداسی اعلان وکی وروسته هغه سپور دابوقبيس غره ته وختی اوبيا يې هغه اعلان وکي اوبيا يې له لوړی خوا يو کاڼی لاندی راګيل کي هغه کاڼۍ چې کله راورسيدی زره زره سو اودمکی داسی کورپاته نه سو چې وهغه ته ددې کاڼی يوه زره نه وی رسيدلی (دخوب پای)

عاتکه داخوب عباس ته بيان کي عباس لادغه خت نه وو مسلمان سوی هغه ددې خوب خپلو خاصو ملګروته بيان کی اوپه دې پوه سو چې پرقريشو باندی يولوۍ غم راتلونکي دی ورو ورو داخوب ابوجهل ته ورسيدی ابوجهل عباس وليدی چې دمسجدحرام وخواته روان دی نو په لاره کې يې ورته وويل اې ابوالفضل دعباس کينت دی ، ستاسو نارينه ووخو دنبوت دعوی کړی وه خواوس ستاسو ښځو هم دنبوت دعوی وکړه ؟

عباس وويل څه خبره ده ابوجهل دعاتکه دخوب يادونه ورته وکوله په همدې وخت کې نا څاپه يو سپور رابنکاره سو داسپور ضمضم غفاری وو اودابوسفيان پيغام يې راوړی وو مکی ته په داسی حالت کې داخل سو چې قميص يې څيرلی اوداوښ پوزه يې پريکړی وه اوداناری يې وهلی اې قريشو دخپلې قافلی خبرموواخلی اوډيرژر دابوسفيان دقافلی مرستی ته ورسي قريشو چې کله دضمضم خبروواوريدی سمدستی دابوجهل په مشری سره راټول سو دجنګ سازسامان سره يو ځای دبدر ميدان ته ورسيدل اودخوب ترجمه يې په خپلو سترګو وليده

اودې پيښې ته هم فکر وکوی کومه چې په صحيح احاديثو کې راغلی دی چې دخندق په غزاکې دخندق دکيندلو په وخت کې يو سخت کاڼي راغلی نو په هغه باندی رسول الله ﷺ درې ځله دکولنګ واری وکی چې په هرځل سره به هغه کاڼی لړمات سو اودهغه رڼا ښکاره سوه اوپه هغه کې دشام اوفارس اويمن ښارونه ښکاره سو ودې ته اشاره وه چې داټول هيوادونه به داسلام تر بيرغ لاندی راځي .

سیف لودین کتابتون

دنبی کریم ﷺ دراتلو ۱۹ زیریٔ دانجیل متّی په دریم باب لومړی آیت کې !

۱: دویٔ دواړو دیوحنایهودیّه په بیابان کې په ښکاره کیدوسره آواز وکی اودایې وویل چې توبه وکاږی داسمان باچهی نژدی راغلی ده ، انتهی.

او دهمدی انجیل دڅلورم باب په اولسم آیت کې راغلی دی :

۱۷: ددې وخت څخه یسوع آواز وکی اوداوینایې پیل کړه چې توبه وکاږی ځکه داسمان باچهی نژدی راغلی دی ، انتهی

داسمان له پاچهی څخه دامراد دی چې یو کتاب به له اسمان نازل سی اوپه هغه کتاب کې به هرڅنگه حکمونه ذکرسوی وی اوپه ډیره حاکمانه اودبدبه سره به هغه خپرېږی دالله ﷻ په سرغړونکواونافرمانو به دزجر احکام پلی کیږی لنډه داچې نه به یوائی په دنیاکې پاچاوی لکه ددنیانورپاچهان اونه به یوائی دالله ﷻ داحکامو خپرونه په کمزوری سره پرته له څه دبدبی اوواکه جاری کوی بلکې اسمانی حکمونه به هم جاری کوی اوله دې سره دبدبه اوحکومت هم وی دالله ﷻ داحکامو سرغړونکوته به سزاهم ورکول کیږی اودالله ﷻ له باغیانوسره به جهادهم کیږی دادواړه خبری دنبی کریم ﷺ اودهغه دخلفاء په وخت کې لکه څنگه چې ویل سوی دی ښکاره سوی دالله ﷻ حکمونه اواسمانی شریعت هم نازل سو اوپه ډیره دبدبه اوعزت اوقوت سره هغه شریعت هم خپورسو دقیصراوکسری تخت هم دمسلمانانو تر پښو لاندی سو اودالله ﷻ له دښمنانوسره جهادهم وسو پر غلولوټ مارانو اوقاتلانوباندی هم حدجاری سو اوزناکاران سنگسار سو شراب خوړونکي په درو ووهل سو تاسوخپله پریکړه وکي چې اسمانی باچهی وهمدی ته نه وایې اودالله ﷻ دپاره که داهم اسمانی باچهی نه وی نوهغه باچهی تاسوراته په گوته کي چې هغې ته اسمانی باچهی ویل کیږی ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ﴾ ۳۷ آیت سورة ق)

دنبی کریم ﷺ دراتلو ۲۰ زیریٔ دانجیل متی په ۲۱ باب اوآیت ۴۲ کې !

یسوع دویٔ ته وویل آیاتاسوپه صحیفوکې کله نه دی لوستلی چې کوم کاڼی چې آبادی کونکونه دی خوښ کړی هغه دسخرسرسو دادالله ﷻ له لوری سوی دی اوزموږپه سترگو عجیبنه ده له همدې کبله زه تاسوته وایم چې دالله ﷻ پاچهی به له تاسو څخه اخیستل کیږی اویوقوم ته به کوم چې میوه راوړی ورکول کیږی چې څوک په دې کاڼی باندی وارکوی هغه څوک به ماتیږی اوپرچاچی داکاڼی رالویږی نوهغه به هم زره زره کیږی انتهی)

له آبادی کونکو څخه بنی اسرائیل مراددی ځکه هغه دبنی اسرائیلو په نظرله یوناخوښه کاڼی سره مشابه دی بنی اسرائیلو چې هرڅومره نبی علیه السلام ردکول غوښتل مگر نبی کریم ﷺ د الله ﷻ په تائید سره دهغه سخرسرسو یعنی نبوت پرده پای ته ورسیدی اودکاڼی دسرکیدو معنی دادی چې کوم کونج چې دآبادی

سیف لودین کتابتون

کانې د کېږي او همداسې وسو د نبوت په ماڼۍ کې چې کوم کونج خالي پاته وو هغه په نبي کریمﷺ سره پوره سو نو ځکه په ده سره د نبوت د ماڼۍ آبادي پای ته ورسیده ،
لکه چې له ابوهریرةؓ څخه روایت سوی دی وایې :

(ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ان مثلي ومثل الانبياء من قبلي كمثل رجل بنى بيتافاحسنه واجمله الاموضع لبنة من زاويته فجعل الناس يطوفون به ويعجبون له ويقولون هلا وضعت اللبنة وانا خاتم النبيين (رواه البخاري في كتاب الانبياء) وفي روايته اناسدرت موضع اللبنة وختم بي البنيان وختم بي الرسل)

رسول اللهﷺ فرمایلی دی چې زما او د مخکنیو انبیاء علیهم السلام مثال داسې دی لکه یو ثوک چې ډېره ښائسته ماڼۍ جوړه کې مګر دیوې خښتې ځاي پرېږدي خلک چې کله دهغې ماڼۍ سیل کوي دا به وایې چې دا یوه خښته ولي پرېښودل سوې دې زه خاتم النبیین یم یعنې ما دهغې خښتې ځای پوره کړی دی او په ما سره دا آبادي پوره سوه او پر ما باندې دانبیاء او رسولانو علیهم السلام سلسله پای ته رسیدلې ده .

او په نبي کریمﷺ چې چاوارکړی دی هغه هم زره زره سوی دی او په چا باندې چې نبي کریمﷺ واری کړی دی هغه هم زره زره سوی دی او دا په سترګوولیدل سو د بدر په جنګ کې قریش په نبي کریمﷺ باندې راغلو او دوئ دا اللهﷻ په فضل زره زره سو او د مکې د فتح په ورځ نبي کریمﷺ پر دوئ باندې ورغلی نو بیا هم دوئ زره زره سو او له نبي کریمﷺ وروسته صحابه کرامؓ په ایران شام روم او یو شمیر نورو سیمو باندې ورغلو ټول یې زره زره کړل او میوره را وړونکي قوم بني اسماعیل دی چې د نبي کریمﷺ په پالنه سره یې میوه راوړه او د حکومت او پاچهي مالکان سوی دی او دا اسماني پاچهي د دوئ په برخه سوه ..

نو ځکه د دې زیری مصداق له خاتم النبیین سیدالاولین والاخرین محمد صلی الله علیه وسلم پرته بل ثوک نه سي کیدای پاته سو عیسیؑ نو هغه خود داؤدؑ له نسل څخه وو په بني اسرائیلو کې هغه ډیر محترم وو هغه له ناخوبنه کانې سره څنګه مشابه کیدای سي او بل دا چې هغه خاتم النبیین نه دی لکه چې مخکې تیرسو چې اهل کتاب د عیسیؑ څخه پرته دیو بل نبي په انتظار وو او مخکې دا هم تیرسو چې کله یحیؑ پیغمبر سو نو یهودو له هغه څخه پوښتنه وکړه چې ته هغه نبي یې الخ ، دریم دا چې مسیحؑ خو خپله په هیچا باندې نه دی ورغلی او یهودو چې کله په ده باندې هجوم راوړی نو د نصاری په عقیده مسیحؑ زره زره سو ..

او عیسیؑ هیڅکله دا نه دی ویلي چې زه خاتم النبیین یم او نه یې دا ویلي چې زما

سيف لودين كتابتون

دنبي كريم ﷺ دراتلو ۲۱ زيرئ دانجيل يوحنا په څورلسم باب پنځلسم آيت کې !

۱۵ : که تاسو زما سره مينه ساتئ نو زما په حکمونو باندي به عمل کوي ۱۶
او زه به له پلار غوښتنه کوم چي هغه تاسو ته بل مرستندوئ درکړي چي تل به له تاسو سره وي
۲۶ هغه تسلي ورکونکي کوم چي روح القدس دی چي هغه پلار زما په نوم سره راليږي هغه به تاسو ته ټول شيان ښيي او ټولي خبري به درته کوي چي ما تاسو ته ويلي دي تاسو ته يادي دي
۲۹ او اوس ما تاسو ته ددې دپيښيدو مخکې ويناوکړه ددې لپاره چي هغه راسي نو تاسو ايمان پری راوړی
۳۰ تردی وروسته به زه تاسو ته ډيري خبري نه کوم ځکه ددواړو جهان سردار راځي او په ماکې دهغه هيڅ شئ نشته
او په پنځه لسم باب اووه ويشتم آيت کې راغلی دی :
۱۷ کله چي هغه مرستندوئ راسي کوم چي زه تاسو ته دپلار له لوری درليږم يعنی دربنتينو الی روح نو هغه به زما شاهدی ورکوی، انتهی
او دشپاړسم باب په اووم آيت کې راغلی دی :
۷ زه تاسو ته رښتيا وايم ستاسو لپاره زما تلل ګټور دی ځکه که زه ولاړ نه سم نو هغه مرستندوئ تاسو ته نه راځي مګر که ولاړ سم نو هغه به تاسو ته راوليږم
۸ : او چي هغه راسي دنيا به په ګناه او رښتيا او عدالت سره ملامته وګڼي
۹ : دګناه په هکله ځکه چي هغوئ به په ما باندی ايمان نه راوړی
۱۰ : د رښتيا په هکله ځکه چي زه خپل پلار ته ځم او تاسو به ما بيا ونهويني
۱۱ : د عدالت په هکله ځکه چي ددې جهان په سردار باندی حکم سوی دی
۱۲ : زما نوری خبری هم سته که زه تاسو ته اوس و وايم نو تاسو هغه نه سی برداشت کولای
۱۳ مګر کله چي هغه روح چي هغه حق روح دی راسي نو تاسو ته به د ټولو رښتيا وو لاری وښيي ځکه هغه به له خپله ځانه وينانه کوی مګر څه چي اوری هغه به وايي او تاسو ته به دراتلونکي خبر درکوی ۱۴
: هغه به زما عزت لويی ښکاره کوی ، انتهی
د انجيل متی په يوولسم آيت کې راغلی دی :
۱۱ زه دتوبې لپاره په اوبو سره بسنه کوم مګر څوک چي تر ما وروسته را روان دی تر ما ډير زورور دی چي زه دهغه دڅپليو دپورته کولو وړ نه يم ، انتهی ،

سیف لودین کتابتون

دعيسى عليه السلام داخبرى اسمان ته ترختلو مخکې حوارييونو ته دتسلى لپاره کړې دى چې تاسو ديهودو مکراوچلونه اودوژلو لارى چارى هيڅ وخت مه هيروى اوزماپه تکليف سره مه غمجن کيږى نږدى ده چې زه له دې دنياولاړ سم اوداسى ځاى ته ولاړسم چې هلته هيڅوک نسى تلاى يعنى اسمان ته ولاړسم له الله ﷻ سره ډير ځايونه دى اوقيامت ته نږدى به بيرته له اسمان راښکته کيږى اوترديو وروسته يې دفارقليط زيرئ ورکړى دى چې يو وخت به راسى چې له ماپرته به يوبل فارقليط (رسول) راښکاره سى اوهغه به زما عزت بيانوى اوزماونه منونکوته يعنى يهودوخبيثانوته به ښه سزاورکوى اوهغه به ددين او دنياسردارى اوهغه به دومره دلوړى مرتبى خاوندى وى چې په ماکې دهغه يوه خبره نسته الله تعالى په قرآن کريم کې ددې زيرى يادونه په داسى ټکو کړى

﴿وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ﴾(٦آيت سورة الصف) ژباړه : هغه وخت يادکړه چې عيسى بن مريم عليه السلام وويل اې بنى اسرائيلوزه تاسوته دالله ﷻ رسول يم اودتورات تصديق کونکي يم او زيرى ورکونکي يم د يولوى رسول چې ترماوروسته به راځى اودهغه نوم به احمد ﷺ وى .

په اصل نسخوکې داحمد لفظ موجودوو لکه چې دانجيل برناباس په نسخه کې اوس هم موجوددى مگر کله چې انجيل له عبرانى ژبې څخه يونانى ژبى ته ترجمه سو نويو نانيانو دخپل عادت سره سم چې دوئ دژباړى په وخت کې دنمونوترجمه هم کوى درسو الله صلى الله عليه وسلم دمبارک نوم (احمد) ترجمه هم په پيرکلوطوس سره وکړه اوبياچې کله له يونانى نسخى څخه عربى ژبى ته وژباړل سو نودپيرکلوطوس عربى لفظ فارقليط وليکل سوتريوه وخته پورې په اردوفارسى اوعربى ژبوکې دفارقليط لفظ پاته وو مگراوس د فارقليط ترجمه په روح القدس وکړل سوه اومسحيان دروح القدس لفظ دتفسيرپه ډول په بريکټوپه يوه يوه تورى کې وليکى دوخت په تيريدوسره يې دفارقليط لفظ بيخى حذف کې وروسته بياچادفارقليط پرځاى دروح القدس لفظ اوچادروح حق لفظ اوچادمرستند وئ اوتسلى ورکونکي لفظ کيښودى اودفارقليط لفظ دانجيل له نويو نسخوحذف سو

فارقليط څه ته وايې ؟

دفارقليط لفظ په اصل کې له يونانى ژبې معرّب سوى دى اودالفظ په يونانى ژبه کې په څو معناگانو راځى هغه ټولى معناگانى په احمد مجتبى محمد ﷺ باندى صادقيږى .

دنصارى علماء دفارقليط دلفظ بيلابيلى معناگانى بيان کړى دى (١) چاويلى دى دفارقليط معنى تسلى ورکونکي چې دهغه عربى ترجمه دى مُعَزِّى (٢) اوبل يوه بياويلى دى دفارقليط معنى ده مرستندوئ اومدگار (٣) بياويلى دى چې فارقليط معنى شافع

سيف لودين كتابتون

شفاعت کونکي (۴) بیاویلی دی چی فارقلیط معنی وکیل یعنی وکالت کونکي (۵) بیاولی دی چی فارقلیط معنی لوی صفت کونکئ چی دهغه فارسی ترجمه ستائنده اوعربی ترجمه حمّاد او احمد د اسم تفضیل په صیغه سره یعنی فاعل دی (۶) بیاویلی دی چی فارقلیط معنی لوی صفت کړل سوی یعنی ډیر ستایل سوی چی په فارسی کې ورته ستوده شده او په عربی کې ورته محمد او احمد د اسم تفضیل په صیغه په معنی دمفعول دی ځکه داحمد لفظ د اسم تفضیل صیغه دی کله په معنی دفاعل راځی او کله په معنی دمفعول راځی نوکه احمد اسم تفضیل په معنی دفاعل سی نومعنی به یې داسی وی ډیر ستایونکي یعنی دالله تعالی ډیر صفت کونکي او که احمد اسم تفضیل په معنی دمفعول سی نومعنی به داسی وی لوی ستایل سوی یعنی هغه څوک چی الله ﷻ او بندګانو ډیر ستایلی دی په هرځای کې دده صفت کیږی (۷) اویوشمیر نورو بیا وایې فارقلیط معنی د عامو خلکو دهیلو او امیدو ځای (۸) او په یوشمیر نسخوکې درسول لفظ دی (۹) اویوشمیر نوربیا وایې چی فارقلیط معنی روح حق دی (۱۰) اونورو بیاویلی دی چی دفارقلیط معنی ثقه او معتبر دی یعنی دمنلو وړ څوک ..

نوکه چیری دفارقلیط اصل یونانی لفظ پاراکلی طوس وګڼل سی نوددې معنی د مرستندوئ او مرددګار او وکیل دی او که داوویل سی چی دفارقلیط اصل یونانی لفظ پیرکلوطوس دی نودده معنی محمد یا احمد یا حمّاد ته نژدی دی

دانجیل په ټولو زړو نسخوکې عربی او فارسی او اردو نسخوکې دفارقلیط لفظ موجود وو مګر په اوسنیو نسخوکې دفارقلیط لفظ پرځای ډیر وخت دمرستندوئ او روح حق لفظ لیدل کیږی مګر سره له دی لاس وهنو اوبدلونه بیاهم زموږ مدعی ثابته دی ځکه په دې زیری کې دفارقلیط چی کوم معنی ګانی یادی سوی دی هغه ټولی په محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باندی په طریقه دکمال صادق او برابری دی او دفارقلیط هره معنی که واخیستل سی هغه په نبی کریم ﷺ باندی صادقیږی نبی کریم ﷺ دالله ﷻ وکیل او استازی هم دی او روح حق او روح صدق او ربنتینی روح هم دی یعنی روح خبیث نه دی چی دروغ وایې او دامت لپاره شفاعت کونکي هم دی او دزیر ورکونکي او ویرونکي هم دی او دالله ستایل سوی او غوره بنده هم دی او تر ټولو ډیر دالله ﷻ حمد او ثناویونکي هم دی بلکې داټول هغه نمونه دی چی یوشمیر یې اسم صفت دی لکه وکیل ، شافع، معین، مرستندوئ. روح حق، او نوربیا علم دی لکه احمد ، محمد ، محمود ، حماد ، او دنبی کریم ﷺ په نمونوکې یونوم حمد هم دی حمد که څه هم مصدر دی معنی صفت کول مګر مبالغتًا په نبی کریم ﷺ باندی صادق سوی دی داسی دی ګواکی نبی کریم ﷺ دالله ﷻ مجسم حمد دی

سیف لودین کتابتون

دفارقليط ترټولوډيره صحيح معنى داحمددى اوپه دې وجه په قرآن كريم كې ددې زيرى يادونه په لفظ داحمدسره راغلى لكه چې الله تعالى فرمايلى دى ﴿وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ﴾(٦آيت سورة الصف) داآيت دقرآن كريم دى اوقرآن كريم چې په كوم ملك كې نازل سوى دى هغه وخت په هغه ملك كې بيشميره ديهودعلماء اودنصارى وو علماء موجودوو كه دازيرئ اويادا خبرمعاذالله غلط واى نودوئ به په ډيره بيړه داخبرخپوركړى واى اوښكاره به يې ددې خبرى انكار كړى واى اوديهودواونصارى كوم علماء چې په اسلام كې داخل سوى وو هغوئ به داغلطى په خپلو سترګوليدلى وه نوسمدستى به بيرته له اسلام اوښتى وه اوپرته له رده به غلى نه كښيناستل درسول الله صلى الله عليه وسلم داوينا په ښكاره بيانول اودنصارى علماء چوپه خوله كيدل ددوئ داقراركولوښكاره دليل دى اوكه څوک دا **سوال** كوى چې كه داخبره ربنتياوى نوپه هغه وخت كې ټولو يهو داو نصارى علماء ولى ايمان نه راوړى ؟

ځواب : دنصارى دعلماء په نزد دعيسى ؑ دښكاره كيدو زيرئ په تورات كې وركول سوى وو مگر سره له دې زيرى اوسره دعيسى ؑ دمعجزاتوله ليدلووروسته بياهم ديهودوعلماء په مسيح ؑ باندى ايمان نه راوړى بلكې دهغه دښمنان سو اودسخت زړى په وجه اوددنيادګټى په خاطريادكين په وجه دمسيح ؑ بلنه ونه منله بلكې په ښكاره د يهودو علماء وويل چې په تورات كې دمسيح ؑ هيڅ زيرى نسته اونه دهغه كومه يادونه سوى ده دغه رنګه ډير علماء دنصارى وو دسخت زړى اوددنيادګټى په خاطردنبى كريم ﷺ پيروى قبوله نه كړه اوسره له دى چې ددوئ يقين وو چې داهغه نبى دى كوم چې عيسى ؑ يې زيرى وركړى دى لكه هرقل روم اومقوقس دمصرپاچاچې په ښكاره داومنل چې داهغه نبى دى كوم چې په انجيل كې يې زيرئ وركول سوى دى مګر دخپل حكومت اوقدرت دساتلوپه خاطريې اسلام نه راوړى اوپه نصارى اودنصارى په علماء كې چې څوک دحق ملګرى وو لكه دحبشه پاچانجاشى اوضغاطررومى اوابن الناطور اوداسى نورنودوئ ايمان راوړى اودنصارى وو ډيروعلماء سره له دې چې دوئ نبى كريم ﷺ وپيژندى ديهودوعلماء په څيرپه ښكاره وويل چې دمحمدرسول الله صلى الله عليه وسلم په تورات اوانجيل كې هيڅ زيرى نسته دنصارى علماء نه منل داسى دى لكه ديهو دو علماء اونوريهوديان چې دمسيح ؑ له زيرى وركولوڅخه په تورات كې منكر دى اودروغ يې بولى دنصارى علماء داوايې چې په دې زيرى كې دفارقليط دراتلوڅخه دروح القدس په حواريينو باندى نازليدل مراددى دوئ وايې كله چې عيسى ؑ اسمان ته وختى نوحواريين په يوسراى كې راغونډسو نوهغه روح القدس پردوئ باندى نازل سواوددې روح په نازليدوسره حواريينو دلږوخت لپاره بيلابيلى ژبى وويلى

سیف لودین کتابتون

دنصاری دامفکوره ډیره پوچه مفکوره ده دازیرئ دیومقدس اوغوره بنده په حق کې دی چې دالله ﷻ له لوری به ورته الهام کیږی اودالله ﷻ له لوری چې هغه ته څه ورکول کیږی هغه به وایې له خپله ځانه به هیڅ نه وایې ددې زیری له روح القدس یعنی جبرئیل امین علیه السلام له نازلیدوسره هیڅ تړاو نسته دفارقلیط دراتلوڅخه دیولوی رسول پاڅیدل اونبوت مراددی چې هغه به دحق اوباطل په مینځ کې بیلوالی کوی مولاناعبدالحق حقانی په تفسیرحقانی کې لیکلی دی یوه پادری په خپله رساله کې چې هغه دفارقلیط دلفظ په تحقیق کې لیکلی ده اوپه کال ۱۲۶۸ هجری کې په کلکته کې چاپ سوی لیکلی دی چې فارقلیط له یونانی ژبې څخه معرب سوی دی نوکه فارقلیط په یونانی کې پاراکلی طوس ، اصل جوړسی نوددې معنی دمعین اووکیل دی اوکه چیری اصل پیرکلوطوس ، سی نو معنی یې محمدیااحمدته نژدی دی نوپه کوم ځای کې چې مسلمانانو دخپل نبی علیه السلام لپاره دازیرئ دلیل ګرزوی نوهغوئ اصل پیرکلوطوس ګڼلی دی ځکه ددې معنی دمحمدیااحمدته نژدی دی نودوئ دعوی وکړه چې عیسی علیه السلام دمحمدیااحمدزیری ورکړی دی مګر په اصل کې پاراکلی طوس دی فقط ؟ موږځواب ورکوو چې اصل پیرکلوطوس دی په یونانی خط کې ډیره تشابه ده پیرکلوطوس یې په غلطی سره پاراکلی طوس لیکلی دی لکه چې په اظهارالحق جلد ۲ /ص /۱۵۵) راغلی دی اوداچې اصلی یې پیرکلو طوس دی ددې یولوی دلیل دادی چې سنټ جروم چې کله دانجیل ژباړه په لاطینی ژبه کې وکړه نودپیرکلوطوس پرځای یې پارکلوطوس ولیکل له دې څخه ثابتیږی چې له کوم کتابه چې ده ژباړه کړی وه په هغه کې پیرکلوطوس وو نه پارکلوطوس (تفسیرهانی) اوکه موږداهم درسره ومنونوبیاهم زموږمدعی ثابته دی ځکه په دې زیری کې دهغه راتلونکی فارقلیط ډیر صفتونه بیان سوی دی هغه ټول په محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باندی صادق اوبرابردی : موږبه یې وضاحت درته وکړو :

(۱)لومړی داچې ترڅوچې زه ولاړنه سم ترهغه وخته نه راځی ، (۲) داچې هغه به زماشاهدی ورکوی (۳) داچې هغه به دنیا په ګناه اوربښتیااومساوات سره محکومه وی (۴) داچې په ماباندی ایمان نه راوړنکوته به سزاروکوی (۵) داچې هغه به دربښتیاوولاره ښیی (۶) داچې هغه به دراتلونکي خبرورکوی (۷) داچې هغه به له خپله ځانه هیڅ نه وایې بلکې څه چې الله ﷻ ورته وایې هغه به وایې (۸) داچې هغه به ددواړوجهانوسرداروی (۹) داچې هغه به زماټولی خبری تاسوته یادوی (۱۰)داچې هغه کارونه چې تاسویې اوس نسی زغملای هغه نبی به راسی اوتاسوته به هغه وښیي اوکومی خبری چې نه دې پوره سوی هغه به پوره کوی داټولی خبری په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی صادق دی

سیف لودین کتابتون

(۱) دنبی کریم ﷺ راتګ دعیسی علیه السلام په تګ باندی تړلی دی ځکه نبی کریم ﷺ خاتم الانبیاء دی اودیوه نبی راتګ دبل نبی په تګ باندی هغه وخت موقوفه کیږی چی دویم نبی خاتم الانبیاء وی که داسی نه وی نودهغه په راتلوسره دلومړی نبی تلل دشرط کیدلوهیڅ معنی نسته ځکه کله چی هغه نبی خاتم الانبیاء نه وی نوداول نبی په شتون کې هم هغه نبی راتلای سی لکه چی په تیرسویوانبیاء علیهم السلام کې په بیلابیلوقوموکې په یوه وخت کې ډیرانبیاء(ع) وو داول نبی تلل ددویم دراتللوهغه وخت شرط کیدای سی چی هغه دویم نبی نوخاتم الانبیاء وی

حاصل دخبری : مسیح علیه السلام په دې جمله کې ښکاره وویل چی هغه فارقلیط اوروح حق به خاتم الانبیاء علیه السلام وی لکه چی الله تعالی فرمایې ﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾(۴۰آیت سورة الاحزاب) محمد ﷺ په تاسوکې دنارینه وو څخه دهیچاپلارنه دی مګر دالله ﷻ رسول ﷺ او دپیغمبرانوآخری پیغمبردی

اومسیح علیه السلام آخری نبی نه وو ځکه دنصاری اویهودو علماء له مسیح علیه السلام وروسته هم دیوبنی دراتلوپه انتظاروو اودروح راتلل دعیسی علیه السلام په تللوباندی موقوف نه وو دروح نازلیدل خودمسیح علیه السلام په شتون کې هم کیدی ..

(۲)اورسول الله ﷺ دعیسی علیه السلام شاهدی هم ورکړه لکه چی الله تعالی فرمایې :

﴿ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا﴾ (۱۵۷) ﴿بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا﴾ ۱۵۸آیت سورة النساء)

ژباړه : دوئ نه عیسی علیه السلام وژلی دی اونه یې په دارکړی دی مګردوئ په شک کې واچول سو اوکوموخلکوچی دعیسی علیه السلام په اړه اختلاف کړی دی هغه رښتیاهم په شک کې دی دوئ په خپله ددې یقین نه لری بلکې یواځې دګمان پیروی یې کړی رښتیاهم دوئ عیسی علیه السلام نه دی وژلی بلکې الله ﷻ خپل طرف ته پورته کړی دی اوالله ﷻ غالب اوحاکم ذات دی

(۳) په رښتیااوعدالت سره یې نومولی دی (۴) دمسیح علیه السلام ومنکرینوته یې پوره سزاهم ورکړه له چاسره یې جهادوکړ اوڅوک یې له وطنه وشړل لکه دخیبریهودواودیثرب بنی نضیر اوبنوقیقاع پیښني چی موږدرته بیان کړی دی اوروح نه څوک ملامت کړی دی اونه یې چاته سزاورکړی اودسزامطلب دادی چی هغه فارقلیط به له ښکاره کیدو وروسته په حاکمانه ډول سزاورکولوتوان لری اوسزابه ورکوی اوښکاره خبره ده چی دروح القدس ښکاره کیدل اوپه عاموخلکوباندی حکومت کول یوځای هم نه دې ثابت سوی اونه دحوارییونو داتوان وو حوارییون دحکومت په ډول وهیچاته سزانه ده ورکړی بلکې دوعظ اونصیحت به یې خلک پوه کول په دوئ کې دحکومت هیڅ سزانه وه لنډه داچی په هیڅ

سیف لودین کتابتون

طریقه هم روح القدس دفارقلیط مصداق نه سی ګرزیدای
اوپه لسم آیت کې دسزاداوجه ښودل سوی چی دوئ په مابانديٰ ایمان نه راوړی داهم پردې دلالت کوی چی ددې فارقلیط اومرستندوئ اووکیل اوشفیع ښکاره کیدل به دعیسی علیه السلام دمنکرینوپه مخکې وی په خلاف دروح ځکه دهغه ښکاره کیدل خوستاسوپه نزدپه حوارییانوباندی سوی دی هغه چی دعیسی علیه السلام څخه نه وو منکراونه حوارییانوچاته سزاورکړی دوئ په خپله ناوسه وو یوه منکرته یې هم سزانه سوه ورکولای (۵) اورسول الله ﷺ دربښتیااوصدق هغه لاری ښودلی دی چی نه چالیدلی اونه اوریدلی دی دده شریعت اودین په دې باندی شاهدی ورکوی (۶) اودراتلونکوپیښوپه هکله رسول الله ﷺ دومره خبرونه ورکړی دی چی دهغوهیڅ شمیرنسته اوداسی صحیح خبرونه یې ورکړی دی چی هوبهوهغه رنګه سوی دی یوټکی هم دهغه خلاف نه دی پیښ سوی اوترقیامته پوری به دغه شان ښکاره کیږی (۷) نبی کریم ﷺ له خپله ځانه هیڅ خبره نه ده کړی لکه چی الله تعالی فرمایې ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ﴾ (۳) ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ﴾ ۴آیت سورة النجم (۸) اوله دې سره سره دټول جهان سردار پاچاسوی هم دی اودجهان په سرداری سره ودې ته اشاره ده چی دده نبوت به دټولی دنیالپاره وی په یوه قوم پوری به خاص نه وی (۹) اونصاری دمسیح علیه السلام سمه لارښونه هیره کړی هغه هم وریاده کړه چی په هغه کې دالله جل جلاله دیووالی اوتثلیث دبطلان دامسئلی یه ښه روښانه کړی اودمسیح علیه السلام دوژلواوپه دارکولونفی یې وکړه اواسمان ته دهغه دپورته کیدواثبات یې وکې لکه چی الله تعالی فرمایې

﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ﴾ (۶۳آیت سورة آل عمران) ﴿وَقَالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ﴾ ۷۲آیت سورة المائدة)

ژباړه : ته ورتهووایه چی اې دکتاب منونکویوی داسی خبری ته راسی چی زموږاوستاسوپه مینځ کې منل سوی ده هغه داچی له الله جل جلاله پرته به دهیچاعبادت نه کوو اونه به له هغه سره شریک نیسواویوبل به له الله جل جلاله پرته خدای نه جوړوو . اوعیسی بن مریم علیه السلام وبنی اسرائیلوته وفرمایل چی اې بنی اسرائیلویواځې دهغه الله جل جلاله بندګی کوی چی زمااوستاسورب دی ربښتیاهم څوک چی له الله جل جلاله سره شرک کوی نوالله تعالی په هغه باندی جنت حرام کړی دی اودهغه ځای داوسیدوجهنم دی اودظالمانوهیڅ مرستندوئ نسته (۱۰) رسول الله ﷺ له پیغمبرکیدو وروسته هغه خبری هم ښودلی دی چی دمسیح علیه السلام په وخت کې دبنی اسرائیلوله زغم څخه وتلی وی یعنی دالله جل جلاله پیژندنه اودالله جل جلاله صفات اوشریعت اوپه هغه دعمل لاری چاری قیامت ته راپاڅیدل اوپرځمکه غوړیدل دجنت

سيف لودين كتابتون

احوال اوددوزخ احوال په دې اړه نبی کریم ﷺ دومره معلومات خپاره کړه چی ددې معلوماتو هیڅ نوم اونښان نه وو اوکوم کارونه چی پوره سوی نه وو دنبی کریم ﷺ شریعت هغه ټول پوره کړه لکه چی الله تعالی فرمایې ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾٣آیت سورة المائدة) ژباړه : نن ورځ ماستاسولپاره ستاسودین پوره کي اوپه تاسوباندی مې خپل نعمت پوره کي اوستاسولپاره می دین اسلام غوره کي ..

اوترقیامته یې یوداسی پوره قانون اودستوریعنی شریعت ورکړ چی هغه ددوئ ددین اودنیادروغوالی اوکامیابي ذمه واردی اودهغه دحقیقت اورازونه اوحکمتونه په لیدلو سره ټوله دنیاحیرانه پاته سوه ترقیامته پوری دپښید نکوپیښنوحکم له شریعت محمدیه څخه معلومیدای سی دیهودو اونصاری علماء سره هیڅ داسی شریعت نسته چی هغه مخ ته کیږدی اودمحمدی امت دعلماء په ډیرفقهاء له هغه قانون فتوی ورکړی اوس له نصاری وو سره دشریعت الهی هیڅ علم نسته چی دهغه په اعتبارسره دوئ فتوی ورکړی له نصاری وو سره دکښت اوکاریګری علوم اوفنون سته مګردحکومت اومشری اوعدل په اړه له دوئ سره هیڅ اسمانی قانون نسته چی دهغه په پلی کولوسره دوئ په دنیاکې په عدل اوانصاف سره حکومت وکوی دغرب له خلکوسره چی کوم قانون دی هغه دروښن فکرانوجوړسوی قانون دی دشریعت اسلامی په ډیرله اسمان نازل سوی قانون نه دی اونه له دوئ سره شته (ددوئ نوی دین ډیموکراسی اواسلام ته تروریزم اومسلمان ته تروریریست اوخپلومریانوته روشن فکران وایې لکه اوس ١٤٣٥هجری قمری کې چی په افغانستان کې ، کرزی ، سیاف ملعون ، ربانی ، پیرسیداحمدګیلانی ، صبغة الله مجددی ،اشرف غنی ، عبدالرحیم وردګ اوداسی نور خبیثان رزیلان نسلونه بې پردوئ لعنتونه وایې څکه دوئ غواړی چی دالهی قانون پرځای غربی قانون افغانستان ته راوړی)(دکاتب وینا)

دعیسایانوعلماء وایې چی دازیرئ دروح القدس په اړه دی روح القدس دمیسح علیه السلام له ختلو ٤٧ ورځي وروسته په حوارییونوباندی نازل سوی دی مګر داخبره په څووجهو باطله دی (١) څکه دروح نازلیدل دمسیح علیه السلام په تګ پوری موقوف نه وو بلکې هغه خوهروخت له مسیح علیه السلام سره اوسیدی (٢) دویمه وجه : روح القدس هیڅوک په رښتیا اوعدالت سره نه دی نومولی اونه یې کوم یهودی ته په مسیح علیه السلام باندی دایمان نه راوړلوسزاورکړی خورسول الله ﷺ له کافرانواومشرکینوسره جهادوکي اودعیسی علیه السلام ونه منونکوته یې سزاورکړه اویهودیانوته یې ښه سزاورکړه له خپلوځمکویې شړلی دی اودوئ یې ملامت کړی دی څکه خلک ملامت کول اودوئ ته سزاورکول پرته له حکومت اوواکه نه سی کیدای له دی معلومه سوه چی راتلونکي فارقلیط اوراتلونکي مرستندوئ به ددنیا واکمن اوپاچاوی چی ګنهګارانوته سزاورکوی، اودڅورلسم باب په دریرشم درس کې چی کوم ددنیادسردار دراتلویادونه سوی له هغه څخه هم ددنیاواکمن اوحاکم مراددی چی دهغه دحکومت دزوروني اوسزایادونه سوی ده

سیف لودین کتابتون

(۳) د مسیح علیه السلام پر هغه باندې د ایمان راوړلو ټینګار به بې معنی سې ځکه حوارېینو خو مخکې لا په روح القدس باندې ایمان راوړی وو دد ې وینا څه اړتیا وه چې کله هغه راسي نو تاسو ایمان پر راوړی د مسیح علیه السلام په دومره اهتمام او ټینګار سره وینا او پر هغه باندې دا یمان راوړلو وصیت کول په خپله دا وایې چې هغه راتلونکي فارقلیط به داسې وی چې د هغه انکار به تر تاسو مخکې نه وی سوی نو که له فارقلیط څخه روح مرادوی نو د هغه لپاره د دومره ټینګار اړتیا نه وه ځکه د چاپرزړه چې روح القدس نازلیږی له هغه څخه انکار کول بیخی امکان نه لری د روح القدس راکښته کیدل به یقیني ګڼه کوی لکه څنګه چې د روح القد س په راښکته کیدو سره پیغمبر ته د خپل نبوت یقین حاصلیږی د انسان ومخ ته ولاړ شئ سره داسې پوره یقین نه حاصلیږی چې قوت خیال هم هغه نه سی دفع کولای په انسان باندې چې کله یو حالت راسي نو د هغه څخه انکار کول هیڅ امکان نه لری

(۴) وجه : اوبل دا چې ددې عبارت وروسته او مخکې عبارت ددې شاهدی ورکوی چې هغه راتلونکي فارقلیط به له عیسی علیه السلام څخه بیل وی لکه چې د شپاړسم آیت دا لفظ چې بل مرستندوئ به درکړی ، ښکاره پر بیلوالي دلالت کوی چې هغه فارقلیط به په بیل صورت او شکل کې ښکاره کیږی نو که له فارقلیط څخه روح القدس واخیستل سی نو هغه خو له عیسی علیه السلام څخه په هیڅ وجه بیل نه دی ځکه د نصاری په عقیده د زوی والی او روح القدس کې حقیقي یووالی دی او روح القدس چې په حوارېینو باندې ښکاره کیږی هغه به په کوم بیل صورت کې نه وی ښکاره سوی لکه څنګه چې یو سړی باندې پیریان واکمن سی نو د پیریانو خبری هغه وی کومی چې د هغه سړی له خولې څخه راوزی په بیل صورت کې نه ښکاره کیږی

(۵) وجه : او بل دا چې په دې زیری کې دا هم ویل سوی چې ما چې تاسو ته څه ویلي دی هغه به درته یاد وی او سره له دې چې په هیڅ کتاب کې دا نه دې ویل سوی چې حوارېینو د عیسی علیه السلام لارښوونی هیری کړی وی او روح القدس دوئ ته هغه لارښوونی وریادی کړی او روح القدس په بیل صورت کې ودوئ ته ښکاره سو

(۶) وجه : په دې زیری کې دا هم ویل سوی دی چې هغه به زما شاهدی ورکوی نو دا صفت یوائې په نبی کریم ﷺ باندې صادق کیدای سی ځکه نبی کریم ﷺ راغلی د مشرکینو او یهودو په مخ کې یې د مسیح علیه السلام شاهدی ورکړه او د هغه خلکو په مخ کی یې شاهدی ور کړه چې له مسیح علیه السلام څخه منکرو و یا ناخبره وو نبی کریم ﷺ د مسیح علیه السلام د رسالت اعلان وکی په خلاف د روح القدس ځکه روح القدس چې تاسو وایاست پر حوارېینو باندې نازل سوی دی حوارېینو خو مسیح علیه السلام رسول مني او پر هغه یې ایمان راوړی د دوئ په مینځ کې د شاهدی ورکولو څه اړتیا وه شاهدی خو باید د منکر په مخ کې ورکول سی نه د منونکو په

سيف لودين كتابتون

مخ کې نومعلومه سوه چی له فارقليط څخه روح القدس نه دی مراد ځکه روح القدس دمنکرينوپه مخ کې شاهدی نه ده ورکړی بلکې رسول اللهﷺ ديهودو اومشرکينوپه مخ کې چی دعيسی علیه السلام دښمنان اونه منونکي وودعيسی علیه السلام دنبوت اورسالت شاهدی ورکړه اودعيسی علیه السلام دوژل کيدو اوپه دار کيدودعوی يې ردکړه اودعيسی علیه السلام اسمان ته ختل يې ثابت کړه (۷) وجه : اوبل داچی مسيح علیه السلام ددې فارقليط په هکله داسی فرمايلی دی چی په ماکې دهغه هيڅ شئ نسته : نوداجمله يوائی په نبی کريمﷺ باندی صادقيږی چی په ماکې دهغه هيڅ شئ نسته ځکه روح القدس اومسيح علیه السلام خوسره يودی . (۸) وجه : اوبل داچی داهم دفکروړده چی دې روح کوم راتلونکي خبرونه ښودلی دی چی په هغه سره داروح ددې زيری مصداق وی (۹) وجه : اوبل داچی ددې زيری مخکې اوروسته کلام پردې دلالت کوی چی راتلونکي دويم فارقليط اودويم مرستندوئ به په بشری جامه اوانسانی شکل کې ښکاره کيږی اودعيسی علیه السلام په شان به په انسانی جامه کې دحق بلنه کوی اودخلکودتسلی لپاره به راځی نودفارقليط مصداق روح القدس گرزول کوم چی په انسانانوباندی دپيريانوپه څيرنازل سوی وی اودننه پکې ننوزی بيخی غلط اوبی معنی دی (۱۰) وجه : اوبل دعيسی علیه السلام اسمان ته له پورته کيدو وروسته ټول نصاری دفارقليط دراتلوپه انتظاروو اودابه يې ويل چی يولوی پيغمبرراتلونکي دی لکه چی منتس عيسائی په دويمه عيسوی پيړۍ کې دادعوه وکړه چی زه هغه فارقليط يم دکوم چی مسيح علیه السلام خبرورکړی دی ډيروخلکوپرده ايمان راوړی چی دهغه پوره يادونه وليم ميورمسيحی دخپل تاريخ په دريم باب کې ليکلی ده اوداکتاب په کال ۱۸۴۸ کې چاپ سوی دی له دې معلومه سوه چی ديهودو اونصاری علماء دايقين وو چی له فارقليط څخه انسان مراددی نه روح القدس ،،، اودلب التواريخ جوړونکي چی يوعيسايی عالم دی ليکی چی ترمحمد رسول اللهﷺ مخکې يهود اونصاری ديونبی دراتلوپه انتظاروو ځکه دحبشه پاچانجاشی دجعفرطيار رضی الله عنه څخه دنبی کريمﷺ دحال پوښتنه وکړه اوسمدستی يې ايمان راوړی اووې فرمايل چی رښتياهم داهغه نبی دی دکوم چی مسيح علیه السلام په انجيل کې خبرورکړی دی او نجاشی دانجيل له عالم کيدوسره سره پاچاهم وو دته هيڅ رنگه ويره اوخطره نه وه اودقبطيانوپاچامقوقس درسول اللهﷺ ليک ولوستی په ځواب کې يې وليکل (سلام عليک امابعد قدقرأت کتابک وفهمت ماذکرت فيه وماتدعواليه وقدعلمت ان نبياقدبقی وقدکنت اظن انه يخرج بالشام وقداکرمت رسولک) ژباړه : سلام دی وی پرتاباندی وروسته ماستاليک ولوستی اوتاچی څه په کښی يادکړی دی اوڅه ته چی ته بلنه ورکوی هغه می وپيژندل ماته ښه معلومه وه چی يونبی تراوسه پاته دی زماگمان داوو چی هغه نبی به په شام کې ښکاره کيږی اوماستاد قاصدډير درناوی وکي ..

سیف لودین کتابتون

مقوقس که څه هم اسلام نه راوړی مګر دا اقراریې وکي چې یو راتلونکي نبي پاته دی ..
اوجارود بن علاء چې په قوم کې ډیر لوئ عالم وو کله چې له خپلو خلکو سره د رسول اللهﷺ په خدمت کې حاضرسو نو سمدستی په اسلام مشرف سو او داسی یې وفرمایل:

(والله لقد جئت بالحق ونطقت بالصدق لقد وجدت وصفک فی الانجیل وبشربک ابن البتول فطول التحیة لک والشکر لمن اکرمک لااثر بعد عین ولاشک بعد یقین ابسط یدک اشهدان لااله الاالله وانک محمدٌ رسول اللهﷺ)

ژباړه : قسم په اللهﷻ تا حق راوړی دی او تا ربښتیا ویلی دی ربښتیا هم ما ستا صفت په انجیل کې لیدلی دی او مسیح بن مریم علیه السلام ستا زیری ورکړی دی ستا لپاره او ږده تحیه ډالی کوم او شاکردی هغه څوک چې ستا درناوی وکړی له لیدلو وروسته د نښې او له یقین وروسته د شک هیڅ اړتیانسته خپل لاس راوړاندی کړه زه شاهدی ورکوم چې له اللهﷻ پرته بل څوک د بندګی لائق نسته او ربښتیا هم ته محمدﷺ د اللهﷻ رسول یې)

او دغه رنګه د روم پاچا هرقل او د تورات او انجیل لویو عالمانو د نبی کریمﷺ د نبوت او رسالت اقرار کړی دی نو له دې ثابته سوه چې د رسول اللهﷺ زیری او د هغه مبارک نوم په انجیل کې لیکلی سوی وو چې د هغه په لیدلو سره خلکو په رسول اللهﷺ باندی ایمان راوړی دی او د نبی کریمﷺ تر راتلو مخکې دده په انتظار وو چاته چې اللهﷻ توفیق ورکی او د دنیا ګټې هغه راونه ګرزوی هغه له دې دولت څخه ګټه واخیسته

ذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ﴾ ۲۱آیت سورة الحدید) اُلْحَمْدُ لِلهِ الَّذِی هَدَانَا لِهٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا اَنْ هَدَانَا اللهُ) ۴۳آیت سورة الاعراف)

(۱۱) وجه : د شپاړسم آیت دا جمله چې د تل لپاره به له تاسو سره وی . د دې مطلب دا نه دی چې هغه فارقلیط به په خپله ستاسو سره او سیږی ځکه فارقلیط په معنی د روح چې د هغه نصاری قائل دی هغه تل له دوئ سره نه دی پاته سوی بلکې مرادیې دا دی چې د هغه شریعت او دین به د تل لپاره پاته وی او تر ده وروسته به بل کوم دین نه راځی چې هغه دده دین لپاره ناسخ سی (۱۲) وجه : د څورلسم باب د ه دوولسم آیت دا جمله یعنی د ربښتیا روح چې هغه د نیانه سی لاس ته راوړی ځکه چې نه به یې هغه لیدلی او نه پیژنی آه د دې مطلب دا دی چې دنیا به د هغه مرتبه نه پیژنی هغه به د ټولو کائناتو تر ټولو غوره او لوی بنده وی

دنصارئ څو پوښتنې او زمونږ ځوابونه !

لومړی سوال : د روح القدس څخه اقنوم ثالث مراد دی نو ځکه روح القدس او روح الحق څخه رسول اللهﷺ مراد کول څنګه صحیح کیدای سی ؟

ځواب : په تیرسوی وخت او په اوسنی وخت کې د روح لفظ په اقنوم ثالث پوری خاص ول نه دی ثابت سوی بلکې ښه او بد او لارښوونکی او ګمراه کونکي په معنا ګانو سره کارول کیږی لکه چې د یوحنا د اول خط په څلورم باب کی

سیف لودین کتابتون

روح یقین مه کوی بلکې روح باندی ازموینه کوی چی هغه دالله ﷻ له لوری دی او که نه
(۲) دالله ﷻ روح تاسو داسی پیژندلای سی چی کوم روح اقرار وکړی چی یسوع مسیح علیه السلام مجسم راغلی دی هغه دالله ﷻ له لوری څخه دی
(۳) او کوم روح چی دیسوع اقرار نه کوی هغه دالله ﷻ له لوری څخه نه دی
او په شپږم آیت کې راغلی دی :
(۶) په دې سره موږ د حق روح او د بیلاری روح پیژنو آه
په دې ځای کې له روح څخه رښتینی نصیحت کونکي او بیلارې کونکی واعظ مراد دی ، اقنوم ثالث د هیچا په نزد نه دی مراد
دویم سوال :په دې زیری کې وینا حوارینو ته ده ځکه د روح نازلیدل او ښکاره کیدل د حوارینو په ژوند کې په کار ده او رسول الله ﷺ خو تر حوارینو په سلګونو کلونو روسته راغلی دی ؟
ځواب : حوارینو ته وینا ځکه سوی چی په هغه وخت کې هم دوئ ژوندی او حاضر وو او دوئ مقصود په وینا سره نه دی بلکې ونوروته د خبر په رسیدو دی لکه چی د انجیل په باب ۲۶ آیت ۶۴ کې راغلی دی : زه تاسو ته داوایم چی تردی وروسته به تاسو ابن آدم داسمان په وریځو کې راتلونکي ووینی آه
او س د هغه مخاطبینو د مرګ ۱۹۰۰ نولس سوه کاله کیږی او له مخاطبینو څخه هیچا هم دعیسی علیه السلام له اسمان راتګ و نه ولیدی ،، نو لکه څنګه چی مقصود په وینا د لته هغه خلک دی چی دعیسی علیه السلام له اسمانه د راښکته کیدو په وخت کې ژوندی وی د غه رنګه په دې زیری کی د وینا مقصود د هغه خلک دی چی د روح حق او فارقلیط د ښکاره کیدو په وخت کې ژوندی او موجود وی
دریم سوال : دانجیل یوحنا د څوارلسم باب په دریرشم آیت کې د سردار لفظ راغلی دی : یو شمیر ناپوهان او ډیر ګمرهان او متعصبین نصاری خاندی او وایې چی له سردار څخه په دې ځای کې شیطان مراد دی ؟
ځواب : له سردار څخه شیطان اخیستل سراسر ناپوهی او یوائی تعصب او کین دی ځکه د دنیا سردار یادول او شیطان ځنی اخیستل نه له کوم لغت ثابت دی او نه له کوم عرف او رواج ثابت دی او بل دا چی له مخکې تیرسویو آیاتو او راتلونکو آیاتو څخه خلاف معنی ده ځکه له سره تر پایه د روح حق یعنی فارقلیط او د هغه د صفاتو یادونه سوی ده ، په کوم وخت کې چی دا فارقلیط راښکاره سی پرهغه باندی د ایمان راوړلو ټینګار سوی دی او بیا د ایمان راوړلو علت په دې الفاظو یاد سوی دی (ځکه د دنیا سردار راځی) د اهغه
ختم المرسلین کیدای سی چی د دنیا له سردار څخه سید العالمین د انبیاء علیهم السلام

سیف لودین کتابتون

سردارو اخیستل سی که داسی نه وی معاذالله که په دې ځای کې له سردار څخه شیطان اخیستل سی نو د شیطان راتګ دیاد وسوو کارو علت څنګه کیدای سی له دې معلومه سوه چې د دنیاله سردار څخه هغه فارقلیط او روح حق مراد دی چې د هغه په لاسو به ګنهګار او مجرم ته سخته سزا ور کول کیږي ،، او د انجیل شپاړسم باب یوولسم درس کې راغلی دی : چې د دنیا سردار مجرم ګرزول سوی دی داربنتیا هم غلط او له ځانه جوړ سوی توری دی او له شکه خلاص ستاسو لاس وهنه ده چې له مخکې اوراتلونکي سره هیڅ تړاو نه لري له یوی خوا د فارقلیط د غوره صفاتو بیان دی او بلی خوا ته تاسو له سردار څخه شیطان مراد وی دا څنګه کیدای سی او بل دا چې د نصاری علماء په نزد کله له دې څخه روح القدس مراد وی آیا دا ښکاره ناپوهی او د شیطان چل او وسوسه نه دی چې ستاسو علماء روح القدس ځنی اخلی او تاسو شیطان ځنی اخلی

دویم دا چې د مسیح علیه السلام دا وینا چې هغه د دنیا سردار راتلونکي دی د دې خبری ښکاره دلیل دی چې هغه سردار تر اوسه پوری دنیا ته نه دی راغلی او شیطان خو د یهودو او نصاری او مسلمانانو د ټولو په اتفاق سره د مخلوق د پیدا کیدو په پیل کې پیدا سوی دی او له خلکو سره په دنیا کې شته او په خلکو کې ګډ وډ سوی دی ، هغه شیطان چیری تللی وو چې د هغه په اړه تاسو دا وایاست چې هغه به اوس راځي آیا هغه مخکې لا نه وو موجود ،، افسوز پر داسی لارورکو .

دریم دا چې د سردار اطلاق د انجیل متی په دویم باب شپږم آیت کې په مسیح بن مریم علیه السلام باندی سوی دی ، د انجیل عبارت دا دی : اې بیت لحم دیهودا سیمی ته دیهودا په حاکمانو کې به چیری چې تر ټولو کوچنی ځمکه ده تا څخه به یو سردار راوزی چې زما دامت اسرائیلی سرداری به کوی . په دې عبارت کې له سردار څخه عیسی علیه السلام مراد دی لکه چې له اووم آیت څخه تر دوولسم آیت پوری له لوستلو څخه ښه څرګندیږي بلکې په اسمانی کتابو کې د سردار او حاکم اطلاق پر الله ﷻ باندی هم راغلی دی له دې معلومه سوه چې له سردار څخه شیطان اخیستل بیخی ناپوهی کم عقلی او بیخی لویه غلطی ده .

دنبی کریم ﷺ د راتلو ۲۲ زیری د انجیل متی په باب دیارلسم او آیت یودیرشم کی !

میسح بن مریم علیه السلام یو بل مثال د دوئ په مخکې وړاندی کی او وې ویل چې د اسمان باچهی

۳۱ : د ږدن د دانی په څیر دی چې هغه یو یو سړی واخلی او په خپل پټی کی یې کرلی وی

۳۲ : هغه د ټولو تخمونو څخه کوچنی وی مګر کله چې غټ سی نو تر ټولو شنو شیانو به غټ وی او داسی ونه به ځینی جوړیږي چې د هواء مرغی به راځي او د هغه ونی پر ښاخلو به دیره کیږي ، انتهی .

سیف لودین کتابتون

داسمان له باچهي څخه شريعت اسلامي مراددي چې په پيل کې دوړې داني سره برابروو مګر په څو ورځو کې دومره لوی سو چې له مشرق ترمغرب او له شمال ترجنوب پورې ور سيدی او دقرآن کريم په دې آيت شريف کې ودې زيرې ته اشاره سوې ده وَمَثَلُهُمْ فِي الإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ (۲۹ آيت سورة الفتح)

ژباړه : او ددوئ صفت په انجيل کې يادسوی دی چې داسې به وی لکه فصل چې خپل تخمونه له ځمکې راوباسې نوهغه غټ سی او هغه پنډ سی او په خپل ټانټه باندې سيده ودرسيږي او دهرې ورځي په غټ والي سره بزګرخوشاله کوی الله ﷻ مسلمانانوته داسې پرمختګ ورکي ددې لپاره چې کافران په دې سره غصه کړي .

اوکيدای سی چې په دې مناسبت سره وکلمې طيبې ته له پاکې ونې سره تشبيه ورکړل سوې وی لکه چې الله تعالی فرمايي :

﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ﴾(۲۴)﴿تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ﴾(۲۵ آيت سورة ابراهيم)

ژباړه : اې نبی ﷺ آيا تاته دی ليدلي چې الله ﷻ يومثال بيان کړی دی چې پاکه کلمه په مثال دپاکې ونې د ی چې دهغې ريښې ټينګې وی او ښاخونه يې په اسمان کې دی هروخت خپله ميوه دالله ﷻ په حکم سره ورکوی الله تعالی دخلکو لپاره مثالونه بيانوی ددې لپاره چې نصيحت قبول کړي ،،

دنبی کريم ﷺ دراتلو ۲۳ زيرئ دانجيل متی شلم باب لومړی آيت !

داسمان باچهي دهغه کورد مالک په څيردی چې سهاروختې ووزی ددې لپاره چې خپل دانګوروپه باغ کې مزدوران وګوماری او هغه مالک له مزدورانو سره يو دينار هره ورځ وټاکی دوئ باغ ته وليږي بيا هغه مالک لمرختلو ته نژدې بيا ووتي اونور مزدوران په بازار کې وليدل چې بيکاره ولاړدی ده هغوئ ته ويل تاسو هم باغ ته ولاړسی څه چې مناسب وی هغومره مزدوري به درکوم نوهغه مزدوران هم ولاړل بيا هغه غرمی ته نژدې ووتی هغه شان يې وکړل او کله چې دورځي يو ساعت پاته سو بيا ووتی اونور خلک يې ولاړوليدل هغوئ ته يې هم وويل تاسولی دلته ټول ورځ بيکاره ولاړياست دوئ وويل ځکه چاموږ په مزدوري نه يو بيولی ده دوئ ته وويل تاسوهم باغ ته ولاړسی کله چې ماښام سو نو دباغ مالک خپلو خادمانوته وويل چې دباغ مزدوران راوغواړی کله چې دوئ راغله وټولوته يې يو يو دينا مزدوري ورکړه هغه مزدوران چې ټوله ورځ يې کارکړی وو هغوئ ته يې هم يو دينار ورکړ دوئ دکورمالک ته شکايت وکی چې داآخری مزدورانوخويوساعت کارکړی او تاهغوئ له موږ سره برابرکړه او سره له دې موږ ټوله ورځ کارکړی دی او تکليف موتيرکړی دی؟ دباغ مالک ځواب ورکی په دوئ کې يوه ته وويل ماستاسوسره بی انصافي نه ده کړې آيا تاسو له ماسره يو دينا مزدوري نه وه تاکلې دغه چې ماځنه کړی يوه

سیف لودین کتابتون

هغه مې درکړه هغه واخله اونورنوزماخپله خوښه دی چې څومره تاته درکوم هغه آخری مزدورته هم هغومره ورکوم آیاماته نه دی رواچې خپل مال چې څنګه غواړم هغه رنګه یې ورکړم اوته له دې کبله چې زه له چاسره نیکی کوم په بدنظرګوری دغه رنګه به آخر اول کیږی اواول به آخرکیږی . انتهی .

دکورله مالک څخه رب العزت مراددی اودانګورله باغ څخه دین الهی مراددی اوله مزدورانو څخه امتونه مراددی اودمزدورانوهغه ډله چې ترټولوپه پای کې راغلی اویوساعت یې کار کړی دی هغه درسول اللهﷺ امت دی چې ترټولوآخری دی اوترټولواول سولکه چې په صحیح بخاری کې ددې زیری په تائیدراغلی دی :

(عن ابن شهاب عن سالم بن عبدالله عن ابیه انه اخبره انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول انمابقائکم فیماسلف قبلکم من الامم کمابین صلوة العصرالی غروب الشمس اوتی اهل التوراة التوراة فعملوحتی اذاانتصف النهار عجزو فاعطوا قیراطاً قیراطاً ثم اوتی اهل الانجیل فعملوا الی صلوة العصرثم عجزوا فاعطوقیراطاً قیراطاً ثم اوتینا القرآن فعملناالی غروب الشمس فاعطیناقیراطین قراطین فقال اهل الکتابیین یاربنا اعطیت هؤلاء قیراطین واعطیتنا قیراطاً قیراطاً ونحن اکثرعملاقال الله عزوجل هل ظلمتکم من اجرکم من شئ قالوا لا قال فهوفضلی اؤتیه من آشاء (صحیح بخاری باب المواقیت جلد۱/ص/۷۹)

ژباړه : ابن شهاب له سالم څخه اوسالم له عبدالله ابن عمرؓ څخه روایت کړی وایې چې عبدالله ابن عمرؓ وایې چې ماله رسول اللهﷺ څخه اوریدلی دی چې وې فرمایل چې ستاسوپه دنیاکې اوسیدنه دتیرو امتوپه نسبت داسی دی لکه له مازیګره ترلمرلویدوپوری تورات منونکوته یې تورات ورکړ هغوئ کار پیل کړکله چې نیمه ورځ سوه نوستړی سوکارېې پوره نه کی یوقیراط یې ورته ورکی بیاانجیل والاووته انجیل ورکړل سو دمازیګرترلمانځه پوری یې کاروکې بیاستړی سو دوئ ته یې هم یوقیراط ورکی بیاموږته قرآن کریم راکړل سو موږترلمرلویدوپوری کاروکی موږته دوه دوه قیراط راکړل سو نوتورات اوانجیل منونکوویل چې اې ربﷻ تادوئ ته دوه دوه قیراط ورکړل اوموږته دې یویو اوسره له دې چې موږکال زیات کړی دی اللهﷻ ورته وفرمایل چې آیاماستاسوسره په مزدوري کې څه کمی کړی دی دوئ وویل نه نوبیارب العزت وفرمایل دازمامهربانی دی چاته چې وغواړم ورکوم یې ..

اودانجیل شپاړسم آیت داجمله چې دغه رنګه اخراول اواول آخرسو بیعینه دصحیح بخاری ددې حدیث برابردی چې ابوهریرةؓ روایت کړی دی

(حدثناابوهریرةؓ عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال نحن الاخرون السابقون (بخاری جلد۲/ص/ ۱۰۳۲)

رسول اللهﷺ وفرمایل موږپه پای کې یواومخکې یو ، یعنی دوخت په لحاظ سره موږترټولووروسته په آخرکې یومګر وجنت ته په داخلیدوکې داللهﷻ په فضل سره ترټولومخکی یو ..

سیف لودین کتابتون

دنبي كريم ﷺ دراتلو ۲۴، او ۲۵ زيرئ په انجيل برناباس كې !

نقل القسيس سيل فی مقدمة ترجمة للقرآن العظيم من انجيل برناباس وطبعت سنه ۱۸۵۴ميلادی وانتشرت ثم طبعوا الكتاب مرة ثانية فاخرجوها وحذفوها وهی مانصها اعلم يابرنابا ان الذنب وان كان صغيراً يجزی الله عليه لا ان الله تعالى غيرراضی عن الذنب ولما اجتبنی امتی وتلاميذی لاجل الدنيا سخط الله لاجل هذا الامر واراد باقتضاء عدله ان يجزيهم فی هذا العالم علی هذه العقيدة الغير اللائقة ليحصل لهم النجاة من عذاب جهنم ولايكون لهم اذية هناک وانی وان كنت بريئاً لكن بعض الناس لما قالوا فی حقی انه الله وابن الله كره الله هذا القول واقتضت مشيئته بان لاتضحک الشياطين يوم القيامة علی ولايستهزؤن بی فاستحسن بمقتضی لطفه ورحمته ان يكون الضحک والاستهزاء فی الدنيا بسبب يهوداه ويظن كل شخص انی صلبت لكن هذا الاهانة والاستهزاء يبقيان الی ان يجيئ محمد رسول الله فاذا اتی الدنيا ينبه كل مؤمن علی هذا الغلط وترفع هذه الشبهة من قلوب الناس انتهت ترجمة بحروفها قال فی اظهار الحق فان اعترضوا ان هذا الانجيل رد مجالس علمائهم فنقول لا اعتبار لردهم وهذا من الاناجيل القديمة ويوجد ذكره فی كتب القرن الثانی والثالث فعلی هذا قبل ظهور نبينا صلی الله عليه وسلم بمأتی سنة ولايقدر احد ان يخبر بمثل هذا الامر من غير الهام كما لايخفی علی ذوالافهام

ژباړه : سيل پادري دقرآن كريم ژباړه كړې دقرآن عظيم دژباړې دمقدمه په پيل كښې يې دبرناباس له انجيل څخه نقل كړې دی داانجيل په كال ۱۸۵۴ميلادی كې چاپ سو مګر په دويم چاپ كې دازيرې څنې حذف سوې دی اوهغه زيرئ چې سيل پادري له انجيل برناباس څخه نقل كړې دی دادی : اې برناباګناه كه څه هم كوچنې وی الله ﷻ دهغه سزاوركوی ځكه الله تعالى په ګناه باندی نه دی راضی زما امت اوزما شاګردانو چې كله ددنيا لپاره ګناه وكړه نوالله تعالى ناراضه سو اودعدل اوانصاف په تقاضايې دا اراده وكړه چې دوئ ته په دې دنياكې په دې نامناسبه عقيده سره سزاوركړی ددې لپاره چې دجهنم له عذاب خلاصون پيداكي اوهلته دوئ ته څه تكليف نه وی زه كه څه هم له دې فاسدی عقيدی بيزاره يم مګر لكه څنګه چې يوشمير خلكوماته دالله اوابن الله ويلی دی نودالله تعالى داونياناخوښه سوه اودهغه خوښي وغښتل چې دقيامت په ورځ شيطانان ماپوری ونه خاندی اونه په ماپسی ټوكی وكړی نوالله تعالى په خپل مهربانی سره داوكړل چې ديهوداپه وجه داخندا په دنياكې وی اوخلک داګمان كوی چې زه په دارسوی يم مګرد اسپكوالی اوټوكی به يواځې دمحمدرسول الله صلى الله عليه وسلم ترراتلوپوری پاته وی اوكله چې هغه دنياته راسی نوهرمؤمن به په دې غلطی خبركړی اوداشک به دخلكوله زړوپورته كيږی (دالفاظوترجمه ختمه سوه) په اظهار الحق كې راغلی دی چې كه دوئ ووايې چې داانجيل خودنصاری علماء ردی كړی دی نه يې منی نوموږورته وايوچې ددوئ دنه منلو هيڅ اعتبارنسه ځكه داانجيل په پخوانوانجيلونوكې دی ددی

سیف لودین کتابتون

يادونه ددويمى اودريمى عيسوى پيړۍ په کتابوکې سته نودا انجيل دنبى كريم ﷺ
دراښکاره کيدو ښخه دوه سوه ۲۰۰ کاله مخکې ليکل سوى دى اوددا سى لوئ خبرورکول
پرته له الهام دهوښيارانو په نزد امکان نه لري

دنبى كريم ﷺ دراتلو ۲۶ زيرى له انجيل برناباس داشعيا عليه السلام له صيحفى څخه

قال والبشارة الثانية قال الفاضل الحيدر على القرشي فى كتابه المسمى خلاصة سيف المسلمين الذى هو فى لسان الاردو اي الهندى فى صحيفة الثالثة والستين ان القسيس اوسكان الارمنى ترجم كتاب اشعيا عليه السلام باللسان الارمنى فى سنه ۱۶۶۶ ميلادى الف وست مأة وست وستين وطبعت سنه ۱۷۳۳ وفيه فى الباب الثانى والاربعين هذا الفقرة ونصها وسبحوا الله تسبيحا جديدا واثر سلطنته على اظهر اسمه احمد انتهت : وهذه الترجمة موجودة عندالارامن فانظروا فيها انتهى كلامه كذافى الجواب الفسيح لمالفقه عبدالمسيح جلد ۱/ص/ ۹۷) دازيرئ فاضل حيدر على قرشي په خپل کتاب خلاصة سيف المسلمين چې په اردوژبه کې دى راوړى دى وايې چې اسکان ارمنى پادرى ديسعيا عليه السلام دصحيفى ژباړه په ارمنى ژبه کې په کال ۱۶۶۶ کې وکړه چې په کال ۱۷۳۳ ميلادى کې چاپ سوى دى په هغه صحيفه کې ديسعيا عليه السلام دوه څلويښتم باب کې داجمله موجوده دى : دالله تسبيح پاکې بيانوئ اودهغه راتلونکي پيغمبر دپاچهى نښه به دهغه په شاباندى وى (يعنى مهرنبوت) اودهغه نوم به احمدوى ، انتهي ، اوداترجمه دارمنيانوسره اوس هم شته په هغه کې دې وکتل سى انتهى کلامه الجواب الفسيح جلد ۱ /ص / ۹۷)

انباء الغيب يعنى دراتلونکوپيښوپه هکله دقرآن كريم اوحديث خبرورکول (۱)

قال الله تبارک وتعالى ﴿تِلْكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَا أَنتَ وَلَا قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَٰذَا فَاصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ﴾۴۹ آيت سورة هود) ژباړه : دادنوح عليه السلام قصه ستاپه اړه دغيب له خبروڅخه دى چې دوحى له لارى ته موږخبرکړى اودوحى نازليدوڅخه مخکې نه ته په دې قصه پوهيدلى اونه ستاقوم په خبروو يوائي دوحى له لارى ته خبرسوى نوته دنوح عليه السلام په څيردکافرانوپه مقابله کې صبرکوه رښتياهم ښه انجام دالله ﷻ څخه دويردونکودى

لکه څنګه چې دنوح عليه السلام دقوم کافرانوتريوڅه وخته سرغړونه وکړه اوراپورته سو خوپه پاى کې غرق سو نوح عليه السلام اودهغه ملګرى بريالى سو يوشميردنبوت اورسالت له دلائلو څخه دقرآن اوحديث وړاندوينى دى چې ترپيښيدومخکې دراتلونکوکاروخبرورکړل سوى دى او په هغو کې دعقل اوقياس اواټکل اووهم اوګمان يوه زره امکان هم نسته اووروسته بياهغه کارونه دهغه خبرسره سم پيښ سوى دى اوښکاره سوى دى مثلادنبى كريم ﷺ خبردبدرپه جنګ کې دجنګ ترپيل کيدومخکې داخبرى چې دادفلانى دمرګ ځاى دى اودادفلانى دمرګ ځاى دى فلانى کافربه پردې ځاى وژل کيږى

(۱) زرقانى جلد ۷ /ص / ۲۰۴)

سیف لودین کتابتون

دډیرو کافرانو د مرګ ځایونه نبی کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ ته وښودل او د هریوه دوژلو ځای به یې په نښه کوی او په دویمه ورځ چې کله جنګ وسو نو هم هغه شان وو او ټولو صحابه کرام ﷺ په خپلو سترګو ولیدل چې هرسړی پرخپل نښه سوی ځای باندی وژل سوی پروت دی او نبی کریم ﷺ دیمن او شام او عراق د فتح خبرورکړی وو په کوم ترتیب سره چې نبی کریم ﷺ خبرورکړی وو په هغه ترتیب سره یادسوی ځایونه فتح سوی دی په دې سره دخلکو د نبی کریم ﷺ د رښتینی کیدو یقین ښه پوخ سو او د رښتینی علامه او نښه هم رښتیاوی او کله چې له ډیروازمو ینو څخه داثابته سوه چې نبی کریم ﷺ چې دغیب کوم خبرورکړی وو هغه هوبهو د هغه خبر مطابق پیښ سو نو د نبی کریم ﷺ په صدق او رښتیا منلو باندی مجبوره سو او پوه سو چې نور خبرونه به هم هم داسی صحیح وی ځکه دیوه غوره بنده له ژبی څخه د داسی خبری اوورېدو ینی ښکاره کیدل چې له هغه څخه انسانی علم او انسانی عقل عاجزه وی ددې ښکاره دلیل دی چې دنبی کریم ﷺ له الله ﷻ علام الغیوب سره خاص اړیکی شته ځکه پرته دالله ﷻ علام الغیوب له خبرورکولو هیڅ انسان داسی وړاندوینه نه سئ کولای یو سړی پرته له څه علامی او پرته له څه اټکل او تخمین داسی خبرورکول چې فلانی سړی په فلانی وخت کې وژل کیږی او بیا هغه هم هغسی ووژل سی داپرته دالله ﷻ له وحی او غیبی خبرڅخه هیڅ امکان نه لری او محال دی نو ځکه په داسی صادق او رښتینی باندی ایمان راوړل لازم دی داسی مثال لری لکه یو باچا چی خپل خاص وزیر په پټو رازو خبرکړی او کله چې هغه وزیر او سفیر په یو وخت کې دا رتیا او مصلحت په بناء باندی خلک په هغه رازو باندی دتنبیه اوزورونی په ډول خبرکړی نو هوښیاران خلک سمدستی پوهیږی چې داسړئ خود باچا نږدی دوست دی بایدد ده خبره ومنل سی ځکه دئ دباچا په رازو خبردی دباچا هم داسی خوښه دی .

دغه رنګه الله ﷻ علام الغیوب کله کله خپلو رسولانو ته دوحی په ذریعه دیو شمیر غیبی کارو خبرورکوی ددې لپاره چې خلک پوه سی چې ددې سړی له عالم الغیب سره خاص تعلق دی او داسړی دالله ﷻ علام الغیوب غوره او خاص بنده دی الله تعالی په خاصو کارو باندی خبرکړی دی ځکه پیغمبرانو چی دکوموراتلونکو کارو خبرورکړی هغه دعقل او تجربی او اټکل څخه ډیرلوړی دی دهغه په اوریدو سره خلک یقین کوی چې داخبری یواځی دعلام الغیوب په ښوونه سره کیدای سی له همدې کبله به منافقین ډیرویریدل چې زموږ دزړه راز ښکاره نه سی او موږ رسوا نه سولکه چې الله تعالی فرمایې ﴿یَحۡذَرُ الۡمُنٰفِقُوۡنَ اَنۡ تُنَزَّلَ عَلَیۡهِمۡ سُوۡرَۃٌ تُنَبِّئُهُمۡ بِمَا فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ﴾ (۶۴ آیت سورة التوبه) منافقین به ډیر ویریدل چې هسی نه چې یو سورة نازل سی او زموږ دزړو په رازو خلک خبرسی ..

دعامو خلکو د فطرت غوښتنه دادی چې څوک ددوئ لار ښودسی او دوئ ته سمه او حقه لار وښیی او عام خلک سمه لار او حق خبره په هغه وخت کې منلای سی چې کله دهدایت

سیف لودین کتابتون

کونکي اودحق دبلونکي رښتينوالى دوئ ته ښکاره سى ځکه الله تعالى دانبياء عليهم السلام دصداقت اورښتينوالى دښکاره کولودپاره دوحى اوالهام په ذريعه دوئ دغيب له خبروڅخه خبرورکوى ددې لپاره چى ددې خبرپه ښکاره کولوسره دوئ ته دانبياء عليهم السلام صداقت اورښتينوالى ښکاره سى داسى حالات اوپېښي چى هغه دوهم اوګمان اوتجربه څخه ډيرى ليرى وى له پيښيدواوښکاره کيدوڅخه مخکې دهغه خبرورکول پرته له غيبى مرستى هيڅ امکان نه لرى ..

دنبى کريم ﷺ دپيش ګوئى ياوړاندوينوبيلوالى له نوروانبياء عليهم السلام څخه !

تيرسويوپيغمبرانو عليهم السلام هم وړاندوينى کړى دى مګر دمحمدرسول الله صلى الله عليه وسلم وړاندوينى ددوئ تروړاندوينوډير لوړى دى ځکه دبنى اسرائيلودانبياء (ع) وړاندوينى به کوتاه اوپټى وى د اشاره اوکنايې په درجه کې به وى تأويل ته به اړتياوه خودرسول الله ﷺ وړاندوينى ښکاره روښانه اودتأويل اوشک څخه ډيرى لير دى مثلاًدروميانوبرياليتوب اودخلافت راشده خبر اوديمن فتح اودعراق فتح اودقيصراوکسرى په حکومتونوباندى دقبضى ټولى وړاندوينى ښکاره اوروښانه دى چى په دوئ کې هيڅ دتأويل ځاى نسته اوپرته له دې داداسى مهم خبرونه وو چى ددې خبروپه اوريدوسره ديناحيرانه پاته سوه اورسول الله ﷺ چى دراتلونکوفتنوپه اړه خبرورکړى دى داسى مثال لرى لکه رسول الله ﷺ چى په خپلوسترګوورته کتل ،

اوس موږ دلته دقرآن کريم وړاندوينى بيانوو وروسته داحاديثووړاندوينى راوړوان شاء الله

(۱) دقرآن کريم دساتنى اوخونديتوب[۱] وړاندوينه

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ ۹ آيت سورة الحجر)

يقيناموږ دالارښود قرآن نازل کړى دى اويقيناموږ ددې ساتونکي يو ..

دهيچاتوان نسته چى په قرآن کريم کې زيادت ياکمى ياتغير اوتبديل وکړى دالله ﷻ داژمنه پوره سوى دى څورلس سوه کاله تيرسوى دى خوالحمدلله قرآن پرته له څخه تغير اوتبديل په هغه شان لکه څنګه چى پررسول الله ﷺ باندى نازل سوى وو يوائحى موږ نه بلکې ټوله دنياددې معجزى منونکي ده داسلام دښمنانوپه هروخت کې داکوښښ کړى دى چى په قرآن کريم کې شک واچوى مګر الحمدلله ديوه تورئ په بدلولوباندى نه دى توانيدلى الله تعالى چى دساتنى کومه ژمنه کړى وه هغه يقينا رښتياده قرآن داسى نه دى لکه تورات اوانجيل چى دوخت هرپاپ له ځان جوړسوى شيان وراچوى اوپه خپله يهوداونصارى هم په تورات اوانجيل کې دهررنګه تغيراوتبديل اقرارکوى ..

---

(۱) ازالة الشکوک تأليف مولانارحمت الله کيرانوى جلد۱ /ص/ ۱۰۱)

سیف لودین کتابتون

(۲) پیش ګوئی یاوړاندوینه دقرآن کریم اعجاز دی !

﴿قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَن يَأْتُواْ بِمِثْلِ هَـذَا الْقُرْآنِ لاَ يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيراً﴾۸۸آیت سورة بنی اسرائیل)

اې نبی کریم ﷺ ته خلکوته ووایه چې که انسانان اوپیریان ټو راټول شي او دقرآن مثل راوړل وغواړي نو دقرآن مثل نسی راوړلای که څه هم یو دبل مرستندوئ سی (۱)

(۳) په قرآن کریم کې درسول الله صلی الله علیه وسلم دساتنی وړاندوینه !

الله تعالی فرمایي (وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ(٦٧آیت سورة المائدة)

الله ﷻ به تا دخلکو له شره خوندی ساتی ..

دنبوت په پیل کې نبی کریم ﷺ یوائحی وو بی مرستندویه اوبی ملګری وو ټول عرب نه بلکې ټوله نړۍ دنبی کریم ﷺ دښمنان وو الله ﷻ دنبی کریم ﷺ دساتنی ژمنه وکړه چې ته مه ویرېږه الله تعالی ستاساتونکي دی دښمن تاته هیڅ زیان نه سی رسولای نو الحمدلله دالله ﷻ داژمنه پوره سوه اوپه بیلابیلوځایواووختوکې الله تعالی نبی کریم ﷺ ددښمنانو له شره خوندی وساتی یومثال یې دهجرت په وخت کې چې کله قریشودنبی کریم ﷺ دشهید کیدونیت وکړ نونبی کریم ﷺ علی ﷺ پرخپله بستره څملوی او د سورة یس لومړنی آیتونه یې ولوستل اودکافرانوپه مخ یې یوموټی خاورې وشیندلې ددوئ مخونه ځړسو نبی کریم ﷺ دابوبکرصدیق ﷺ کورته راغلی اوله هغه ځایه یې دوئ دواړه غارثورته ولاړو چې په دې هکله داآیت نازل سو (۲) ﴿وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُواْ لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللّهُ وَاللّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ﴾۳۰آیت سورة الانفال)

(۴) داسلام دغلبی وړاندوینه !

﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾۳۳آیت سورة التوبه)

الله ﷻ هغه ذات دی چې خپل رسول یې په هدایت اوحق دین سره راولیږی ددې لپاره چې غالب یې کړي په ټولودینونوباندی که څه هم کافران یې بدګڼي .. الحمدلله داژمنه هم پوره سوه اودین اسلام پرنورواديانولکه یهودیت ، نصرانیت ، مجوسیت ، اوبودائیت ، اودهریت ، پرټولوباطلومذهبوباندی غالب سو اوپه هیڅ باطل دین کې داتوان نه وو چې په دلیل اوبرهان سره ددین اسلام مقابله وکوی

(۵) دروم دبریالیتوب وړاندوینه پرفارسیانوباندی !

﴿الم﴾ (۱)﴿غُلِبَتِ الرُّومُ﴾ (۲)﴿فِي أَدْنَى الْأَرْضِ وَهُم مِّن بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ﴾ (۳)﴿فِي بِضْعِ سِنِينَ لِلَّهِ الْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِن بَعْدُ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ﴾ (۴)﴿بِنَصْرِ اللَّهِ يَنصُرُ مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾ (۵)﴿وَعْدَ اللَّهِ لَا يُخْلِفُ اللَّهُ وَعْدَهُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾ (۶) سورة الروم)

---

(۱) ازالة الشكوک جلد ۱ ص /۱۰۸) ——— (۲) ازالة الشكوک جلد ۱ ص /۸۸ــ ۹۰)

سيف لودين كتابتون

ژباړه : د روم عيسايانو د عربو په نږدې ځمکه کې ماته وخوړه او دوئ به له دې ماتې ورو
سته په نږدې يو څو کلو کې بيرته بريالي کيږي د الله ﷻ خوښه ده مخکې هم او وروسته هم
يعنې لکه څنګه چې د ماته د هغه په اراده سره وسوه دغه رنګه به بريا ليتوب هم د ده په
اراده کيږي او په هغه ورځ يعنې په کومه ورځ چې روميان په فارسيانو بريالي کيږي نو په
هغه وخت کې به مسلمانان خوشاله وي چې د الله ﷻ په مرسته اهل کتاب په مشرکانو باند
ې غالبه سو الله چې وغواړي د هغه چا مرسته کوي او هغه بريالي کوي او مهرباني کونکې
دی د اژمنه الله ﷻ کړې چې د مسلمانانو د خوشالۍ لپاره به څو ورځې وروسته روميان پر
فارسيانو باندې بريالي کيږي الله ﷻ د خپلې ژمنې خلاف نه کوي مګر ډير خلک نه پوهيږي
په دې آياتو کې د يو غيبي وړاندوينې يادونه سوې دا آيتونه د مدينې منورې تر هجرت
مخکې په مکه مکرمه کې نازل سوي دي اصلي پيښه داسې وه چې د روميانو او فارسيانو
تر مينځ جګړه وسوه فارسيان پر روميانو باندې بريالي سو د دوئ په بريا ليتوب د مکې
مشرکين ډير خوشاله سو مسلمانانو ته به يې ويل چې فارسيان زموږ په څير مشرکان دي
دوئ په روميانو باندې بريالي سو چې ستاسو په څير کتاب لري دا زموږ لپاره يو ښه فال
دی نو يوه ورځ به موږ هم پر تاسو بريالي کيږو مسلمانان د دوئ په دې خبره ډير خفه سو په
همدې وخت کې الله تعالى نبي کريم ﷺ ته خبر ورکی چې روميان که څه هم او س ماته خوړ
لې مګر ډير ژر به بيرته بريالي کيږي په لس کاله دننه کې به روميان په فارسيانو بريالي
کيږي دا د الله ﷻ وعده ده چې رښتيا به هم پوره کيږي (۱) او وه کاله وروسته د قرآن کريم
دا وړاندوينه پوره سوه او روميان په فارسيانو باندې غالب سو او د حديبيه د سولې په وخت
کې د الله ﷻ دا وعده پوره سوه ..

(٦) د خلافت راشده وړاندوينه ! د قرآن په رڼاکې

﴿وَعَدَ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئاً وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾ ۵۵ آيت سورة النور) په دې آيت کې الله تعالى د وخت له
نبو خلکو سره يعنې صحابه کرام ﷺ سره دا ژمنه کړې دی (لومړی) دا چې تاسو ته به داسې
لوی خلافت او لويه پاچهي درکوم لکه تر تاسو مخکې چې په بني اسرائيلو کې داؤد عليه السلام
او سليمان عليه السلام ته بې مثاله خلافت او پاچهي ورکړل سوی وه (دويم) دا چې د دوئ
د حکومت په وخت کې به د اسلام دين ته داسې ځای او لوړوالي ورکوم چې دين اسلام به
د دنيا پر ټولو دينو باندې غالبه کيږي (دريم) دا چې د دوئ له زړو څخه به د کافرانو ويره
بيخي ووزي او پرته له ويرې به په ډاډه زړه د الله ﷻ عبادت کوي او دا رنګه مضمون په بې
شميره احاديثو کې راغلی دی ، نو الحمد لله دا ژمنه د خلفاء راشدينو په وخت کې پوره سوه
صحابه کرام ﷺ د قيصر او کسرى د خزانو مالکان سو او په کوم وخت چې دا وړاندوينه وسوه

(۱) ازالة الشکوک جلد ۱ ص / ۹۷، ۱۰۱)

سیف لودین کتابتون

په هغه وخت کې صحابه کرام ﷺ بیوزله او تنګ لاسي او بې سرپناه وو دوئ له کافرانو سره په ویره او سیدل د شپې چې به ویده کیدل نو دا بیره به ورسره وه چې کیدای سي څوک پر مو ږ باندې ناڅاپه برید وکوي او نه د جنګ له قوانیو پوره خبر وو او نه د پاچهی له قوانیو او د دیناله واک سره ناآشنا وو ټولې قبیلې د مسلمانانو دښمنان وو او د مسلمانانو دوینې تږي وو په ایران کې د مجوسو حکومت په ډیر زور کې وو او په روم کې د عیسایانو پاچهي ډیره مضبوط وه او دواړه حکومتونه د فوځي توان او مالي لګښت او سلاح او اقتصاد په لحاظ سره لوړې کچې ته رسیدلي وو او د ځمکې پر مخ باندې د قیصر او کسرې د مقابلې توان له هیچا سره نه وو ،، مګر له دې سره سره په دیرش کاله کې د خلافت او حکومت په اړه چې څومره وړاندوینې سوې وې هغه پرته له ظاهري اسبابو یوائې په غیبي مرسته او په عجیبه طریقه ښکاره سوې هغه داسې چې د رسول الله ﷺ په ژوند کې حجاز او نجد او یمن او خیبر او بحرین او د عرب ډیر هیوادونه د مسلمانانو تر واک لاندې راغلو او د حبشه پاچا نجاشي مسلمان سو او د حبشه ټول هیواد دارالاسلام جوړ سو او هجر مجوسیانو او د شام د شاوخواسیمو یو شمیر عیسایانو جزیه قبوله کړه او د ابوبکر صدیق ﷺ د خلافت په وخت کې د فارس یو شمیر سیمې او د بصرې او د شام یو شمیر نورې سیمې د مسلمانانو تر واک لاندې راغلې او عمر فاروق ﷺ د خلافت په وخت کې د شام ټول هیواد او د مصر او فارس ډیرې سیمې فتح سوې او کسرې ډیره هڅه وکړه مګر پرته له ماتې بل څه په لاس نه ورغلو او قیصر پښې او لاسونه وغورزول مګر پرته له دې چې خپل بخت ملامت کړي بل څه ونه کړل او د فرنګیانو ډیر هیوادونه چې د قیصر تر واک لاندې وو دوئ د قیصر روم له ماتې وروسته د عمر فاروق ﷺ په وخت کې د مسلمانانو په واک کې راغلو او ددې هیوادو بې شمیره خزانې او غنیمتونه په مسلمانانو ویشل سو او په دې ټولو شاوخواسیمو کې د الله ﷻ دیو والي او دین اسلام اعلان وسو له یو شمیر سیمو څخه خوبیخې د کفر او شرک نوم او نښان ورک سو او په یو شمیر ځایو کې کفر سر ټیټي سو او کافرانو په ذلت سره جزیه ورکول و منل او مسلمانانو پرته له ویرې په ډاډه زړه د الله ﷻ عبادت کوي . او د عثمان ذی النورین ﷺ د خلافت په وخت کې د مغرب خواته د اندلس تر څنډو او قیروان او بحر محیط ته څیرمه او د مشرق خواته تر چین پورې ټولې سیمې فتح سوې او د عثمان غني ﷺ د خلافت په وخت کې د کسرې د حکومت نوم او نښان هم ورک سو او په کال ۳۰ هجري کې کسرې ووژل سو او د مشرق او مغرب مالیه د مدینې منورې په خزانو کې راټولې سوې ټوله نړۍ په دغه وخت کې د مسلمانانو تابع وه او د الله ﷻ په فضل او مهرباني سره د ځمکې پر مخ باندې لوی قدرت مسلمانانو ته ورپه برخه سو لکه چې کله نادرشاه د هندوستان په بادشاه محمد شاه باندې بریالی سو نو داسې وو ګواکي پر ټول هندوستان باندې د هغه واک سو

سیف لودین کتابتون

که څه هم په هغه وخت کې دد کن ولایت دده ترلاس لاندی نه وو همداسی داسلام بریا لیتو
ب وو کله چی دروم حکومت ونړیدی نو ټول فرنګیان چی دروم تر واک لاندی وو ماته و
خوړه او دمسلمانانو داسی فراخ او ټینګ حکومت راغلی چی ګویا دټولی نړۍ حکومتونه
داسلامی حکومت ترلاس لاندی وو

حاصل دخبری دادی چی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ دوعدی برابر په ډیره لږه موده کې
دسلګونو کلو حکومتونه ونړیدل اونصاری اومجوسو او مشرکینو داسلام دمقابلی ټولی
هڅي او کوښښونه وکړل مګر دوئ ته هیڅ په لاس ورنه غلل بلکې ددې خلاف اسلام لوړی
ځینی ته پورته سو اسلام په پلن والی کې پنځه ثلویښت درجوته رسیدلی دی لکه دباب
المندب دیونان ترسیمی پوری اوپه ځای ځای کې پنځوس درجی ته رسیدلی دی لکه
دترکستان شمالی سیموته اویوشمیر ځایونه بیا اویادرجوته ورسیدی اوپه یوشمیر ځایو
کې دواتیادرجوته ورسیدی او داسلام په دې ټولوسرحداتو کې داسلام بیرغ ورپول سو او
دعلی کرم الله وجهه دخلافت په وخت کې که څه هم کوم ملک نه دی فتح سوی مګر داسلا
م پرمختګ ډیروسو ځکه دعلی رضی الله عنه اومعاویه رضی الله عنه اختلاف داسی دی لکه دیوه وروړچی له
بل ورورسره اختلاف راسی دوئ دواړه دکفرپه مقابل کې یو وو

دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم دفتوحاتوپه هکله لوی کتابونه لیکل سوی دی چی هغه دلمرپه
څیر روښانه دی دخلفاء راشدینوپه وخت کې چی اسلام کوم پرمختګ کړی دی په دنیا کې
ددې هیڅ مثال نسته دقیصراو کسری دحکومتونه یې ونړول اودځمکی نیمه کره یې فتح
کړه دالله ﷻ دیووالی اوحق دین سرلوړی سو اوکفراوشرک سرکوب سو اودنیایې دعدل
اوانصاف څخه ډکه کړه ،، رضی الله تعالی عنهم ورضوا عنه ..

(۷) دخیبردفتح وړاندوینه (۸) دفارس اوروم دفتح وړاندوینه !

﴿لَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ
فَتْحاً قَرِيباً﴾(۱۸)﴿وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا وَكَانَ اللهُ عَزِيزاً حَكِيماً﴾ (۱۹)﴿وَعَدَكُمُ اللهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُو
نَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَذِهِ وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ عَنكُمْ وَلِتَكُونَ آيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطاً مُّسْتَقِيماً﴾ (۲۰) ﴿
وَأُخْرَى لَمْ تَقْدِرُوا عَلَيْهَا قَدْ أَحَاطَ اللهُ بِهَا وَكَانَ اللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيراً﴾ (۲۱ آیت سورة الفتح)

په دې آیاتو کې الله تعالی له هغه مسلمانانوسره چی په بیعت الرضوان کې شریک وو
ژمنه کړی چی نژدی به تاسو ته دخیبرغنیمتونه درکوم لکه چی الله تعالی فرمایې وَأَثَابَهُمْ
فَتْحاً قَرِيباً همدافتح یې ورکړه اودویمه وعده دروم اوفارس فتح وه لکه چی الله ﷻ
فرمایې وَأُخْرَى لَمْ تَقْدِرُوا عَلَيْهَا کې دروم اوفارس فتح ته اشاره وه (ازالة الشکوک جلد ۱/ص/۹۶)
دالله تعالی ټولی وعدی پوره سوی خیبرخود رسول الله ﷺ په ژوند کې فتح سو فارس اوروم
دعمر فاروق رضی الله عنه دخلافت په وخت کې فتح سو .

سيف لودين كتابتون

(۹) دعربي قبیلو دماتې او مغلوب کېدو وړاندوینه ! (۱)

﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوا سَتُغْلَبُونَ﴾ ۱۲ آیت سورة آل عمران) ﴿أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ﴾ (۴۴) ﴿سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ﴾ (۴۵ آیت سورة القمر)

دالله ﷻ ددې وعدې برابر دهجرت په اتم کال مکه فتح سوه اودعربو قبیلې دومره مغلوبه سوې چې داسلام په مقابله کې یې دسرپورته کولو هیڅ توان پاته نه سو اودهجرت په څلورم کال بنونضیر یهود وماته وخوړه اوله مدینې وشړل سو اودهجرت په پنځم کال بنې قریضه ووژل سو اودهجرت په اووم کال خیبر فتح سو اویهود دمسلمانانو ترلاس لاندې بزګران او جزیه ورکونکي سوه.

(۱۰) دمکې دفتح وړاندوینه !

﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾ (۱) ﴿وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا﴾ (۲) ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾ (۳ آیت سورة النصر)

دهجرت په اتم کال مکه مکرمه فتح سوه اونهم اولسم کال له هرلورې عربي قبیلې اوشام اوعراق خلک دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو اوایمان یې راوړی اوډلې ډلې په اسلام کې داخل سو

(۱۱) داحزاب په غزاکې دبریالیتوب وړاندوینه !

﴿وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَٰذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا﴾ ۲۲ آیت سورة الاحزاب)

اوپه حدیث شریف کې راغلي دي: (سیشتد الامر اجتماع الاحزاب علیکم والعاقبة لکم علیهم)

نژدې ده چې دعربو بیلابیلې قبیلې اوډلې رایوځای سي اوپرتاسو برید وکوي مګرپه پای کې به تاسوپردوئ بریالي کیږی.. نوهمداسې وسو لکه چې دخندق په غزاکې دعربو ډیرې قبیلې په مسلمانانو باندې دبرید لپاره راغلې اودالله ﷻ په حمد سره دالله ﷻ اودرسول ﷺ وعده پوره سوه اومسلمانانو ته الله تعالی بریالیتوب ورپه برخه کی اوکافران شرمیدلي اوماته خوړلي بیرته ولاړل

(۱۲) دیهودو په هکله داوړاندوینه چې دوئ به دمرګ تمنانه کوي !

﴿قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ عِندَ اللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾ (۹۴) ﴿وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ﴾ ۹۵ آیت سورة البقرة)

رسول الله ﷺ یهودیانوته وفرمایل چې که تاسوپه دې دعوه کې رښتیني یاست چې تاسو دالله ﷻ دوستان یاست نودمرګ تمناوکړی اوله دې سره داوړاندوینه وسوه چې تاسو هیڅرې دمګر تمنانه سی کولای نوهمداسې وسوچې دمرګ غوښتنه یې ونه کړه اوهمدا مضمون دسورة الجمعة په آیت کې دی. ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ هَادُوا إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَاءُ لِلَّهِ مِن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾ (۶) ﴿وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ﴾ ۷ آیت سورة الجمعة)

(۱) ازالة الشکوک جلد ۱ /ص /۹۱ — ۹۳)

سیف لودین کتابتون

(۱۳) دکافرانو په زړوکې دویرې اچولو وړاندوینه!

﴿سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَا أَشْرَكُوا بِاللهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَاناً وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَبِئْسَ مَثْوَى الظَّالِمِينَ﴾ ۱۵۱ آیت سورة آل عمران)

لکه چې دحمراء الاسد په غزاکې داویره دکافرانو په زړوکې واچول سوه سره له دې چې دوئ په احدکې بریالی سوی وو مګربیایې هم داهمت ونه سوکړای چې پرمدینه منوره باندې بریدوکوي اودغه رنګه داحزاب په غزاکې ددوئ په زړوکې ویره ولویده لکه چې الله تعالی داخبرورکړی دی ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحاً وَجُنُوداً لَمْ تَرَوْهَا وَكَانَ اللهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيراً﴾ ۹ آیت سورة الاحزاب)

اوپه حدیث کې راغلي (نصرت بالصباء واهلکت عادابالدبور) دالله ﷻ له لوری زمامرسته دسهارپه بادسوی اودعادقوم دشالخواپه بادسره هلاک سوی دی..

(۱۴) له دین داوښتلوفتنه اودهغې دبندیدووړاندوینه!

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ذَلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾ ۵۴ آیت سورة المائدة)

په دې آیت کې الله تعالی درسول الله ﷺ دژوندپه وخت کې خبرورکړ چې وروسته به له مسلمانانو څخه یوشمیرپیرته له دین اسلام اوړي یعنی مرتدکیږي به نوپه هغه وخت کې به الله تعالی ددوئ دمقابلې لپاره داسې خلک راپورته کوي چې له مرتدینوسره جهاد کوي اوله مرتدینوسره جهادکونکي به دالله تعالی غوره اوخوښ بندګان وي دارتدارپیښه دابوبکرصدیق ؓ دخلافت په وخت کې وسوه اودابوبکرصدیق ؓ په حکم سره ټولو صحابه کرامو ؓ له مرتدینوسره جهادوکي اومرتدینوته یې غوڅه ماتې ورکړه.

(۱۵) درسول الله صلی الله علیه وسلم دوفات وړاندوینه!

﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ﴾ (۱) ﴿وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللهِ أَفْوَاجاً﴾ (۲) ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّاباً﴾ (۳ آیت سورة النصر)

له ابن عباس ؓ څخه روایت سوی دی چې په دې سورة کې رسول الله ﷺ ته دآخرت دسفردتیاری اشاره دی چې کله دالله ﷻ مرسته اوفتح راسی اوخلک ډلې ډلې په اسلام کې داخل سی نوپوه سه چې دنبوت مقصدپوره سواوس په تسبیح او تحمید او استغفار مشغول سه اودآخرت دسفرلپاره تیاری کوه

تردې ځایه یوری دهغه پیش ګویانویاوړاندوینوبیان وو چې په قرآن کریم یادې سوی دی اوس مورهغه وړاندوینې درته راوړو چې په احادیثوکې راغلی دی

سیف لودین کتابتون

هغه وړاندوينې يا پيش ګويانې چې دهغو يادونه په احاديثوکې راغلې !

په صحيحن کې له حذيفه بن اليمان ﷺ څخه روايت سوى دى چې يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل نصيحت کې ترقيامته پورې چې پيښيدونکې کارونه وو هغه بيان کړه چاچې يادکړه هغو يادکړه اودچاچې هيرسو هغه څنې هيرسو اوزماملګرى هم په دى خبردى له هغو څخه يوشميرداسې چې له ماهيرسوى دى چې کله زه هغه ووينم رايادېږي يعنې له پيښيدووروسته يې زه پوهيږم چې داهغه خبردى چې نبي کريم ﷺ فرمايلى وو لکه څنګه چې ديوسړي شکل ته ووينى اوهغه ولاړسي بياچې کله هغه سړي ووينى نوپيژنى يې چې داهغه فلانى سړي دى :

(زرقانى شرح مواهب جلد ٧ /ص /٢٠٥ وفتح البارى جلد ٦ /ص /٢٠٨ باب بدء الخلق اوکتاب القدوم)

اوس موږ په ډيرکوتاه ډول سره هغه پيښې بيانه وو چې هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ترپيښيدومخکې بيان کړي دي اوداحاديثودتخريج پرځاى مودکتاب په حواله اکتفاء کړي ددې لپاره چې که دچاتفصيل په کاروى نواصل کتاب ته دې رجوع وکوى

(١) دخلافت راشده خبريې ورکړي دي په بې شميره احاديثوسره ثابت دي

(٢) دخلافت راشده دوخت خبريې ورکړي دي چې هغه به ديرش کاله وى (زرقانى جلد ٧ /ص /٢٢)

(٣) دشيخين رضي الله عنهما دخلافت خبريې ورکړي دى چې ترماوروسته د ابوبکرصديق ﷺ اوعمرفاروق ﷺ پيروى وکوى

(۴) دخلافت راشده په هکله يې په وار وار داسې لارښوونې کړي چې په هغوى سره دخلافت راشده ترتيب معلوميږي

(۵) داسلام سلطنت فراخې اودلويولويوبرياليتوبواوفتحو خبريې ورکړي دى اوفرمايلى دى چې زمادامت پاچهى به دومره فراخيږي څومره چې ماته ځمکه رانغاړل سوى ده اورانبودل سوى ده (زرقانى جلد ٧ /ص /٢١٠)

(۶) دقيصراوکسرى دهلاکت اوبربادى خبريې ورکړي دى (زرقانى ج ٧ /ص /٢٠٧)

(٧) چې زمادامت پاچهى به دومره فراخيږي څومره چې ماته ځمکه رانغاړل سوى ده اورانبودل سوى ده (زرقانى جلد ٧ /ص /٢١٠)

(٨) ديمن اوشام اوعراق اومصراوبيت المقدس اوقسطنطيه دفتح خبريې ورکړي دى

(٩) دجنګ بدرپه وخت کې دجنګ ترپيل کيدويوه ورځ مخکې دبدر دوژل سويو نوم په نوم خبرورکړي دى اودايې فرمايلى دى چې فلانى سړي په فلانى ځاى وژل کيږي اوراپرځي به نوکوم ځاى چې دچالپاره ښودل سوى وو پرهم هغه ځاى وژل سوى پراته وو .

(١٠) دابى بن خلف دوژل کيدو خبريې ورکړي دى چې زه به هغه قتل کوم

(١١) دخندق په غزاکې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې له نن ورځې وروسته به قريش په موږ باندې بريد کولو توان نه لري بلکې موږ به په دوئ باندې بريدونه کوو

سيف لودين كتابتون

(۱۲) دنجاشي دوفات خبريې ورکړې دی (زرقاني جلد ۷ /ص /۲۰۶)
(۱۳) دموته په غزاکې چې دلښکرکوم اميران شهيدان سو رسول الله صلی الله عليه وسلم عيناً دهغه جنګ په وخت کې په شهادت باندی په تفصيل اوترتيب سره ددوئ دشهادت خبرورکړی دی (زرقاني جلد ۷ /ص /۲۰۹)
(۱۴) په مکه مکرمه کې يې قريشوته داخبرورکړ چې هغه دظالمانه پريکړې کاغذچې په کعبه کې ځړيدلی وو پرته دالله ﷻ له نوم څخه نورټول وَينوخوړلی دی (زرقاني جلد ۷ /ص /۲۱۰)
(۱۵) نبی کريم ﷺ دوفات په ناروغی کې فاطمة الزهرا رضي الله عنها ته وويل چې زماتروفات و روسته به زماپه کورنۍ اوعيال کې ترټولومخکې ته له ماسره يوځای کيږې (زرقاني جلد ۷ /ص /۲۱۲)
رسول الله صلی الله عليه وسلم دمرګ په ناروغی کې خپلوبيبيانوته فرمايلي دی چې په تاسوکې ترټولوډيره خيرات کونکی ښځه به لماسره ژر يوځای کيږې نوهمداسی سی وسو چې په بيبيانوکې زينب بنت جحش رضي الله عنها چې ترټولو ډيره خيرات کونکې وه اوپه ام المساکين سره مشهوره وه ترټولوبيبيانومخکې وفات سوه
(۱۷) دعمرفاروق رضي الله عنه په اړه فرمايلي دی چې عمر رضي الله عنه دفتني قلف دی يعنی ترڅوپوری چې عمر رضي الله عنه ژوندی وی فتني به هم بندی وی اوقلف سوی وی نوهمداسی وسو چې دعمر رضي الله عنه دخلافت په وخت کې په مسلمانانوکې هيڅ فتنه اوفسادنه دی ښکاره سوی کله چې عمر فاروق رضي الله عنه کوچ وکی نوفتني اوفسادونه پيل سوه
(۱۸) دعثمان غنی رضي الله عنه دشهادت خبريې ورکړی دی رسول الله صلی الله عليه وسلم دعثمان غنی رضي الله عنه ته وويل چې ته به ددښمنانوپه بلوی (غم) کې شهيد کيږې اوستاليپاره جنت دی نوهمداسی وسو بخاری ومسلم بروايت ابی موسی (زرقاني جلد ۷ /ص /۲۱۳)
(۱۹) دعلی کرم الله وجهه دشهادت خبر دعلی رضي الله عنه په اړه يې فرمايلي دی چې بدترين دامت به ستاپه سرباندی داسی توره وهی چې په هغې سره به ستاږيره رنګينه کيږې نوهمداسی وسو (زرقاني جلد ۷ /ص /۲۱۳)
(۲۰) دجنګ جمل خبريې ورکړې دی (زرقاني جلد ۷ /ص /۲۱۵)
(۲۱) دجنګ صفين خبريې ورکړې دی (زرقاني جلد ۷ /ص /۲۱۶)
(۲۲) دعائشه صديقه رضي الله عنها دراوتلوخبريې ورکړې دی (زرقاني جلد ۷ /ص /۲۱۶)
(۲۳) دعمار رضي الله عنه په هکله نبی کريم ﷺ خبرورکړې دی چې تابه دباغيانويوټولی شهيدکوی اوهمداسی وسو عمار رضي الله عنه داسلام دباغيانوديوی ډلی له خواپه شهادت ورسيدی (زرقاني جلد ۷ /ص /۲۲۰)
(۲۴) دحسن رضي الله عنه په هکله رسول الله ﷺ خبرورکړې دی چې الله تعالی به دده په لاس باندی
... (زرقاني جلد ۷ /ص /۲۱۷)

سیف لودین کتابتون

(۲۵) حسین ﷺ دشهادت خبریې ورکړی دی ، حسین شهید سو (زرقانی جلد ۷ /ص / ۲۱۸) زمادامت خلک به تاشهیدکوی اودشهادت قصه په زرقانی جلد ۷ /ص / ۲۱۹) کې

(۲۶) دثابت بن قیس بن شماس ﷺ دشهادت خبریې ورکړی دی (زرقانی جلد ۷ /ص /۲۲۱)

(۲۷) دعبدالله بن زبیر ﷺ دابتلاء مصیبت خبریې ورکړی دی (زرقانی جلد ۷ /ص / ۲۲۱)

(۲۸) دعبدالله بن عباس ﷺ دابوالخلفاء دخلیفه ګانودپلارکیدوخبریې ورکړی دی (زرقانی جلد ۷ /ص / ۲۲۳اوازالة الشکوک جلد ۱ /ص / ۲۲۲)

(۲۹) دمدینی دیوه لوی عالم یعنی امام مالک دراتلوخبریې ورکړی دی (زرقانی جلد ۷ /ص / ۲۲۳، اوو۲۲۵)

(۳۰) دقریشودد عالم خبریې ورکړی دی یعنی دامام شافعی رحمه الله خبریې ورکړی دی (زرقانی جلد ۷ /ص / ۲۲۵)

(۳۱) دفارس دیوه لوی عالم خبریې ورکړی یعنی دامام ابوحنیفة النعمان دښکاره کیدوخبریې ورکړی دی (تبییض الصحیفة فی مناقب الامام ابوحنیفه للسیوطی)

(۳۲) په هره پیړۍ کی یې دمجدد ددین دتازه کونکي خبرورکړی دی (زرقانی جلد ۷ /ص / ۲۲۷)

(۳۳) دخوارجودراوتلوخبریې ورکړی دی (زرقانی جلد ۷ /ص / ۲۲۷)

(۳۴) دروافضودښکاره کیدوخبریې ورکړی دی (زرقانی جلد ۷ /ص / ۲۳۰)

(۳۵) دقدریه اومرجبه دښکاره کیدوخبریې ورکړی دی (زرقانی جلد ۷ /ص / ۲۳۰)

(۳۶) ددجالانودراوتلویعنی دنبوت ددعوی کونکوخبریې ورکړی دی (زرقانی جلد ۷ /ص /۲۳۱)

(۳۷) داحادیثو دمنکرینو نه منونکوخبریې ورکړی دی

(۳۸) داسودعنسی خبیث په اړه یې خبرورکړی دی اسودعنسی دیمن په صنعاء کې دنبوت دعوی وکړه نبی کریم ﷺ دهغه دوژلوخبرورکړ په کومه شپه چی ووژل سو نبی کریم ﷺ په هغه وخت کې په مدینه منوره کې صحابه کرامو ﷺ ته خبرورکي

(۳۹) دمختار او حجاج دراتلوخبریې ورکړی دی

(۴۰) دشیرویه په لاس دخپل پلارپرویزکسری دوژل کیدوخبریې ورکړی دی

(۴۱) عباس ﷺ چی له ام الفضل سره کوم مال پری ایښی وو نبی کریم ﷺ دده دمال خبرکله چی هغه دبدرپه جنګ کې بندی سونبی کریم ﷺ له ده څخه دفدیه غوښتنه وکړه عباس وویل چی زه دفدیه ورکولوتوان نه لرم نونبی کریم ﷺ وفرمایل چی هغه مال چیری دی چی تادمکی څخه دراوتلوپه وخت کې دشپی دام فضل سره یوځای کیښودی هغه ورکړه ازادبه سی سره له دی چی په دې مال هیڅوک نه وو خبر (زرقانی جلد ۷ /ص / ۲۰۸)

سیف لودین کتابتون

(۴۲) فتنې او زلزلې ۴۳ او د قیامت د علاموخبریې ورکړی دی (۴۴) د دجال د راتلو خبر (۴۵) له لمر لوید و څخه د لمر راختل (۴۶) دابة الارض راوتل (۴۷) دا ور راوتل (زرقانی جلد ۷/ص/۲۳۳ تر صفحه ۲۳۶)

لنډه داچې نبی کریمﷺ د ډیرو کارو خبرورکړی دی او هغه پیښې هم هماسې سوی دی او د اخبرونه پرته د الله ﷻ له خبرید لو هیڅ امکان نه لري موږ یو څو کارونه دنمونې په ډول تاسو ته بیان کړه (اللهم صل علی سیدنا و مولانا محمد و علی آله وصحبه وبارک وسلم)

دنبی کریمﷺ دخیر او برکت معجزی!

نبی او رسولﷺ په خپله دخیر او برکت بهانده چینه وی مگر نبی کریمﷺ چی څنګه په نورو کمالاتو کې تر انبیاء علیهم السلام افضل او غوره دی دغه رنګه ده چی څومره دخیر او برکت معجزی ښکاره کړی دی هغه بل نبی نه دی ښکاره کړی لنډه داچی دنبی کریمﷺ په برکت سره لږ خوراک اولږ او به دیوه لوی لښکر مړیدل او او به کیدل په ډیرو ځایو کې صحابه کرامؓ په خپلو سترګو لیدلی دی (لومړی) دخندق په غزاکې یوه ورځ جابرؓ په خپل کورکې یواځې دیوه سیرور بشو ډوډۍ تیاره کړه او ډیر صحابه کرامؓ په ماړه سو او خوراک یې ځنی وکی (بخاری ومسلم به روایت جابرؓ)

(۲) دابو طلحهؓ په کورکې هم دوئ یواځې نبی کریمﷺ ته له دوه یادرې ملګرو سره خوراک تیار کړی وو مګر ودې لږ خوراک ته نبی کریمﷺ ټول ملګری راوغوښتل او ښه په ماړه نس یې خوراک وکی (بخاری ومسلم به روایت انسؓ)

(۳) په یوه کاسه اوربشو یعنی درې نیم سیره او دیوی بزی په غوښه نبی کریمﷺ اتیا کسان ته ډوډۍ ورکړی او ماړه سو (بیهقی اودلائل النبوة)

(۴) دحدیبیه په کوهی کې او به نه وی نبی کریمﷺ داو داسه څه پاته سوی او به په هغه کوهی کې واچولی نو سمدستی په هغه کوهی کې او به دچینی په څیر را و خوټیدی او پنځه لس سوه صحابه کرامو ؓ او به ځنی وڅیښلی او خپلو څارویو ته یې هم ورکړی (بخاری به روایت براء بن عازبؓ ومسلم روایت سلمه بن اکوعؓ)

دتبوک په چینه کې او به وچی سوی وی رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپل او داسه او به په هغه چینه کې واچولی نو د هغه چینی او به سمدستی دومره ډیری سوی چی ټول لښکر په او به سو (مسلم عن معاذؓ)

(۶) یوه ورځ ټول لښکرنبی کریمﷺ ته دتندی شکایت وکی رسول اللهﷺ په یوه کوچنی پیاله کې خپل لاس مبارک کیښودی نو دده له ګوتو مبارکو څخه او به روانی سوی چی په هغه او بو سره ټول لښکرا و به سو او دسونه یې هم وکړل (بخاری ومسلم به روایت انسؓ)

سیف لودین کتابتون

(۷) یوه ورځ نبی کریم ﷺ ته د شیدو پیاله راوړل سوه نبی کریم ﷺ ابوهریرة ؓ ته وویل چی ټول اهل صفه راوغواړه چی اویا ۷۰ یا اتیا کسان وو ټولو له دې پیالی خوراک وکی اوماړه سو اود شیدو پیاله هم هغه شان پاته سوه (بخاری)

(۸) رسول الله ﷺ چی کله له زینب ؓ سره نکاح وکړه نو دانس ؓ مور ام سلیم لږ خوراک تیارکي اونبی کریم ﷺ ته یې ولیږی نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ؓ ته بلنه ورکړه اوحکم یې وکی چی ۱۰ لس ۱۰ لس تنه کښینی. اوخوراک پیل کي اټکلا درې سوه کسان وو ټول ماړه سو اوخوراک ترمخکې زیات وو (صحیح مسلم)

دنبی کریم ﷺ ددعاء دقبولیدلو معجزې !

یوه معجزه له معجزاتو دنبی کریم ﷺ څخه داوه چی دچالپاره به یې دعاکړی هغه قبوله سوی دی وداسی معجزاتو ته معجزات سیف اللسانی هم وایې معنی دژبی توره په اصطلاح کې ودې ته ویل کیږی چی دچاله ژبی څخه چی څه راوزی هم هغه شان کیږی اوهیڅ رنګه ځند نه پکی کیږی دادالله ﷻ دغوره کیدو اودالله ﷻ دمرستی نښه ده چی الله تعالی دده له ژبی څخه څه راوباسی هغه هم هغه رنګه کیږی اودنبی کریم ﷺ له ژبی مبارک به چی څه راووتل هغه به ډیری لیک وو اودچاپه حق چی څنګه خبره له ژبی مبارک څخه وتلی نو هغه هم هغه سی سوی دی

(۱) دانس ؓ لپاره یې دعاء وکړه هغه ډیر بیوزله وو دنبی کریم ﷺ په دعاء سره غټ سرمایه دار اوشتمن سو

(۲) عبدالرحمن بن عوف ؓ دنبی کریم ﷺ په دعادومره شتمن سو چی دسلهاووزره درهمو مالک سو

(۳) دسعد ؓ لپاره رسول الله ﷺ دمستجاب الدعوات دعاء وکړه هروخت چی به سعد ؓ کومه دعاء وکړه هغه به قبولیدله.

(۴) سراقه دهجرت په وخت کې په نبی کریم ﷺ پسی ورغلی اونبی کریم ﷺ ته نژدی ورسیدی نبی کریم ﷺ دعاء وکړه چی یاالله دده آس په ځمکه کې ښخ کړی سمدستی دسراقه آس ترزنګنوپوری په ځمکه کې ښخ وروسته هغه امان وغوښتی نبی کریم ﷺ دعاء وکړه بیرته دده آس له ځمکی څخه راووتی..

(۵) عبدالله بن عباس ؓ ته په کوچنی والی کې نبی کریم ﷺ دعلم اوحکمت دعاء وکړه چی دهغې دعاء په اثر دده له ژبی دعلم اوحکمت چینه وبهیدلی

(۶) نبی کریم ﷺ دابوهریرة ؓ لپاره دحافظی دعاء وکړه دهغې دعاء په برکت ترهغې وروسته چی ابوهریرة ؓ څه اوریدلی دی هغه یې بیانه دی هیرسوی

(۷) دابوهریرة ؓ دمور لپاره نبی کریم ﷺ هدایت دعاء وکړه الله تعالی هغې ته هدایت وکړ

سیف لودین کتابتون

(۸) يوه ورځ رسول الله ﷺ دچاکورته ولاړی او په ټولو باندی يې يوڅادرواچوی اودعائی وکړه په دې دعاء باندی د دروازی بنديانو او د کور ديوالو درې ځله آمين وويل

(۹) قريشو چې کله د رسول الله ﷺ ډيرسخته دښمنی پيل کړه نو نبی کريم ﷺ د دوئ په حق کې ښيرا وکړه چې يا الله پردوئ باندی وچکالی راولی همداسی وسو دنبی کريم ﷺ په دعاء سره پردوئ وچکالی راغله (بخاری شريف)

(۱۰) په مدينه منوره کې وچکالی راغله د جمعې په خطبه کې يو سړی ولاړ سو او غوښتنه يې وکړه چې يارسول الله ﷺ ته له الله ﷻ څخه دباران دعاء وغواړه نبی کريم ﷺ لاسونه پورته کړه دعاء يې وکړه په هم هغه وخت کې باران پيل سو.

دنبی کريم ﷺ دشفاء معجزی ! (۱)

په خيبرکې دعلی کرم الله وجهه سترگې خوږيدی نبی کريم ﷺ خپلی لاړی مبارکی دعلی ؓ په سترگو وموښلی سمدستی هغه جوړ سوا وبيا هيڅلکه نه دی خوږ سوی

(بخاری شريف به روايت ابن مسعود ؓ ، دداسی معجزو تفصيل په شفاء دقاضی عياض اوشرح مواهب کې پوره وگوری

(۲) دقتادة بن نعمان ؓ سترگه ووتله اولاندی ولويدله نبی کريم ﷺ په خپل لاس مبارک دهغه سترگه په خپل ځای کې کيښوده نو دقتادة ؓ سترگه داسی جوړه سوه اوښائسته سوه چې دده دويمه سترگه هم دهغې په شيرنه وه

(۳) عبدالله بن عتيک ؓ چې کله ابورافع يهودی قتل کي او بيرته راتلی نوله ځنی څخه راولويدی او پښه يې له پونډۍ سره ماته سوه په همدغه ماته پښه نبی کريم ﷺ ته راغلی نبی کريم ﷺ دده پرپښه باندی لاس تيرکي سمدستی جوړه سوه داسی جوړه سوه لکه تراوسه چې هيڅ خوږ سوی نه وه (بخاری شريف باب قتل ابی رافع)

(۴) په غارثورکې ابوبکرصديق ؓ سوروی تړل ماروچيچی نبی کريم ﷺ خپلی لاړی مبارکی په وموښلی سمدستی جوړ سو.

(۵) يوړوندد نبی کريم ﷺ په خدمت کې حاضرسو نبی کريم ﷺ هغه ته يوه خاصه دعاء وښودله اووې فرمايل چې اودس وکړه او دوه رکعته لمونځ وکړه اوزما په وسيله دادعاء وغواړه الله تعالی به ستاحاجت پوره کړی هغه ړانده هم همداسی کاروکی عثمان بن حنيف ؓ وايې چې موږله هغه مجلس لانه وو ولاړ سوی چې دهغه ړانده سترگی جوړی سوی (ترمذی کتاب الدعوات اومستدرک للحاکم جلد ۱ ص / ۵۱۹)

(۶) دحبيب بن ابی فديک ؓ پلاربه سترگو ړوندسو رسول الله ﷺ دده سترگی دم کړی سمدستی په هغه وخت کې بيناسو (طبرانی اوبيهقی وابن ابی شيبه)

(۷) په حجة الوداع کې يوې ښځی خپل کوچنی نبی کريم ﷺ ته راوستی چې داکوچنی خبری نه سی کولای گونگئ دی نبی کريم ﷺ اوبه راوغوښتلی اولاس يې ومينځل اوپه

(۱) شفاء قاضی عياض جلد ۱ ص / ۶۵۰، زرقانی جلد ۵ ص / ۱۸۶

سیف لودین کتابتون

خوله مبارکه کې يې اوبه واچولی اودايې وفرمايل چې دا اوبه ودې ماشوم ته ورکړی اوڅه يې په هغه باندې وشيندلی هم، په دویم کال هغه ښځه راغله نو هغه ماشوم بيخی جوړ سوی وو او خبرې يې هم شروع کړې وی (سنن ابن ماجه باب النشرة او دلائل ابی نعيم صفحه ۱۶۷)

(۸) محمد بن حاطب ﷺ په کوچنيوالي کې د مورله غيږې په اور کې ولويدی اولړ وسو ځيدی نبی کريم ﷺ په هغه باندې دخولې لاړې مبارک وموښلی سمدستی جوړ سو (رواه ابو داؤد واحمد بن حنبل والبخاری فی تاريخه)

(۹) ابو هريرة ﷺ دخبرو دهير دلو شکايت نبی کريم ﷺ ته وکي چې له تاڅه اورم هغه می هير يږی نبی کريم ﷺ وفرمايل چې ته خپل پټو وغوړوه کله چې هغه پټو خپور کي نبی کريم ﷺ د ده په پټو کې په دواړه لپوڅه وځنډل اووې فرمايل چې داله سينې سره وموښلوه ابو هرير ة ﷺ وايي چې ماهم همداسی وکړه تردې وروسته له ماهيڅ خبره نه دی هيره سوې (بخاری)

(۱۰) يو سړی راغلی نبی کريم ﷺ ته يې وويل يارسول الله ﷺ زما ورور ناروغه دی پرده باندی دليوتتوب اثردی نبی کريم ﷺ وفرمايل هغه دلته راوله کله چې هغه راوستل سو نو نبی کريم ﷺ دقرآن کريم ډير سورتونه په هغه باندې ولوستل اودم يې کی سمدستی په دغه وخت کې هغه سړی جوړ روغ سو اودليوتتوب هيڅ اثرپرهغه باندی نه وو (سنن ابن ماجه باب القرع والارق) فتلک عشرة کاملة دالس پيښي موږ درته بيان کی لنډه داچې دمرضونو په اړه نوري هم ډيری معجزی سته چې په هغه باندی نبی کريم ﷺ دم کړی دی يالاړی موښلی دی يالاس تيرکړی دی هغه سمدستی جوړ سوی دی

دنبی کريم ﷺ مړی ژوندی کولو معجزی ! (۱)

انبياء عليهم السلام په اصل کې روحانی طبيبان دی دزړه اوروح دناروغيو درملنه کوی مګر دعادت خلاف کله ناکله الله تعالی دانبياء عليهم السلام په لاس باندی دداسی ناروغيو درملنه کوی چې دهغو له درملنی طبيبان عاجزه وی اوځای ځای بيا په خپل کامل قدرت سره داپيناء عليهم السلام په لاس باندی مړی هم ژوندی کوی چې په دې سره وخلکو ته دنبی عليه السلام حقاينت اودالله ﷻ دغوره بنده کيدل خلکو ته ښکاره سی داسی معجزی ډيری و عيسی عليه السلام ته ورکړل سوی دی خو الله تعالی سيدنا محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم ته سره له دې چې نوري هم ډيری رنګارنګ معجزی ورکړی وی خو دمرضونو شفاء او دمړی ژوندی کولو معجزی يې ورکړی دی دمړيو يوه لويه ډله دنبی کريم ﷺ په لاس باندی ژوندی سوی دی (زرقانی جلد ۵ ص / ۱۷۰) امام قرطبی په خپل کتاب تذکره قرطبی کې وايي چې الله تعالی دنبی کريم ﷺ په لاس مبارک باندی دمړيوه ډله ژوندی کړی دی چې هغه قاضی عياض په خپل شفاء نامی کتاب کې ليکلی دی (شرح شفاء للعلامة القاری جلد ۱ ص / ۶۴۳)

---

(۱) شفاء جلد ۱ ص / ۶۴۳، زرقانی جلد ۵ ص / ۱۸۳

سیف لودین کتابتون

(۱) انس ﷺ روايت کوي چې ديوې رنډې سپين سرې بوډۍ ځوان زوی مړ سو مونږ ټولو په هغه باندې يو ټوکړ واچوی او هغه موپټ کړ سپين سرې موريې به اندازې ډيره غمجنه سوه او چيغې يې کړې او داسې وويل اې رب ﷻ ته په دې خبريې چې ما يوائې ستا لپاره اسلام راوړی دی او بتان مې پرې ايښي دي او په ډيره مينه مې ستا رسول ﷺ ته هجرت کړی دی اې الله ﷻ د دين دښمنانو ته دخوشالۍ وخت مه ورکوی او پرما باندې داغم مه راولی انس ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ او مونږ اصحاب صفه ﷺ په دغه وخت کې هلته موجود وو قسم په الله ﷻ مونږ لا هلته موجود وو چې ناڅاپه هغه ځوان راژوندی سو او له خپل مخ څخه يې پټوپورته کی او زمونږ سره يې خوراک وکي او هغه ځوان د رسول الله ﷺ له وفات ورو سته هم ژوندی وو او دهغه بوډۍ مور د دغه ځوان په ژوندی کې وفات سوه (رواه ابن عدی و ابن ابی الدينا و البيهقی و ابونعيم دتفصيل دپاره زرقانی جلد ۵ /ص / ۱۸۳ وګوری) د بوډۍ په فرياد او د نبی کريم ﷺ په برکت د دې زوی راژوندی سو

(۲) په دلائل بيهقی کې راغلی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يو سړی ته د اسلام بلنه ورکړه هغه وويل چې زه به هغه وخت اسلام راوړم چې ته زما مړه سوی لور راژوندی کړې چې او س نژدې مړه سوې دی نبی کريم ﷺ وفرمايل چې ته ما ته د هغې قبر وښيه هغه سړی نبی کريم ﷺ د هغه انجلۍ قبرته بوتلی نبی کريم ﷺ د هغې قبرته ودريدی د هغې انجلۍ نوم يې واخيستی او هغې ته آواز وکی هغه انجلۍ راژوندی سوه او (لبيک وسعديک) په دزناوی درته حاضره يم يې وويل له قبره د باندې راووتله نبی کريم ﷺ هغې انجلۍ ته وويل چې آيا ته له خپل مور او پلار سره او سيدل غواړې ،انجلۍ وويل يا رسول الله ﷺ د الله تعالی نژديکت ترمور او پلار ډير غوره دی او ما آخرت تر دنيا غوره پيدا کي (زرقانی جلد ۵ /ص / ۱۸۲ شفاء قاضی عياض صفحه ۱۶۰)

(۳) له عائشه صديقه بنت صديق ﷺ څخه روايت سوی دی وايې چې نبی کريم ﷺ په حجة الوداع کې د حجون په نامه ځای کې کښېنته سو يوه ورځ ما وليدی چې ډير خفه او غمجن دی په ژړا باندې ووتی کله چې بيرته راغلی نو خوشحاله او په شنډانو کې يې خندل مادد ې سبب څنې وپوښتی نبی کريم ﷺ وفرمايل چې ماله الله ﷻ څخه وغوښتل چې زما مو ر او پلار راژوندی کړې الله تعالی زما مور او پلار راژوندی کړه او دوئ پرما ايمان راوړی او بير ته وفات سو (دا روايت سهيلی په روض الانف کې راوړی او ويلی دی چې دد ې روايت د سند راويان مجهول دی او حافظ ابن کثير وايې چې دا حديث که څه هم ډير ضعيف دی مګر موضوع نه دی او په فضائل او مناقب کې د ضعيف حديث راوړل روا دی (زرقانی جلد ۵ /ص / ۱۸۳) شيخ جلال الدين سيوطی او علامه زرقانی وايې چې د احياء ابوين يعنی د نبی کريم ﷺ د مور او پلار د ژوندی کيدو حديث په اړه د محدثينو درې قوله دی :

سیف لودین کتابتون

ابن جوزي او ابن دحیه وايي چي دا حدیث موضوع دی او امام قرطبی رحمة الله علیه وايي چي دا حدیث صحیح دی او سهیلي او ابن کثیر او یو شمیر نور بیا وايي چي دا حدیث ضعیف دی مګر موضوع نه دی علماء دي د تفصیل پاره زرقانی له صفحه ۱۶۶ بیا تر صفحه ۱۸۷ جلد ۵ وګوري چي په هغه کي د احیاء ابوین پر حدیث باندی تفصیلي خبري سوي دی او دد ي وخت د هیڅ علامه علم د محدیثنو له درایت او علم په مقابله کي د کتلو قابل هم نه دی حافظ شمس الدین محمد بن ناصر دمشقی څو مره ښه ویلي دی :

حبا الله النبی مزید فضل............... علی فضل وکان به رؤفا

فاحیا امه و کذا اباه............... لایمان به فضلا لطیفا

فسلمنا لقدیم بذا قدیر............... وان کان الحدیث به ضعیفا

او شیخ جلال الدین سیوطی ویلي دي چي دا حدیث که څه هم ضعیف دی مګر موضوعی نه دی لکه په یوه اوږده قصیده کي وايي

وجماعة ذهبوا الی احیاء.................. ابویه حتی آمنوا لاتخرفوا

وروی ابن شاهین حدیثا مسندا............... فی ذلک لکن الحدیث مضعف

(۴) د حدیثو په کتابو کي په ډیرو روایاتو دا ثابته سوی چي په خیبر کي یوې یهودی ښځي یو کباب سوی پسه نبی کریم ﷺ ته د هدیه په ډول ورکي چي په هغه پسه کي زهر ګډ سوی وو نبی کریم ﷺ له هغه څخه یو څه خوراک وکی او صحابه کرام رضی الله عنهم چي په دغه ځای کي حاضر وو هغوئ هم یو څه ځني وخوړی مګر سمدستي نبی کریم ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم ته وفرمایل چي لاس ونیسی او وې فرمایل چي دې پسه ماته خبر راکی چي په ما کي زهر ګډ سوی دی ، قاضی عیاض وايي چي حدیث شاة مسموة مشهور دی د حدیثو امامانو په صحاح او سنن کي روایت کړی دی دائمه متکلمینو په دې کي اختلاف دی امام ابو الحسن اشعری او قاضی ابو بکر باقلانی ویلي دی چي الله تعالی په دې مړه پسه کي په خپل کامل قدرت سره د خبرو توان پیدا کي لکه دو نو اوډ برو خبری کول نو غه رنګه د پسه غوښه په خپل حالت او شکل باندی پاته وو او الله تعالی په هغه کي د خبرو کولو توان پیدا کي او یو شمیر متکلمین بیا وايي چي الله تعالی په هغه غوښه کي ژوند پیدا کي او له ژوندی کیدلو وروسته هغه غوښې خبری وکړی او دا قول له امام ابو الحسن اشعری څخه نقل سوی دی (شفاء قاضی عیاض صفحه ۱۵۹،،، او مناهل الصفا صفحه ۴۳)

(۵) رسول الله ﷺ په مسجد نبوی کي د خورمایوی ستنی ته تکیه لګوله او خطبه به یې لوستله وروسته چي کله منبر جوړ سو نو نبی کریم ﷺ په منبر باندی خطبه ولوستله په همدې

سیف لودین کتابتون

وخت کې ناڅاپه دجدایۍ په غم کې هغه دخورماستن په ژړااوفریادسوه نبی کریم ﷺ له منبره راښکته سو او هغه ستن یې په خپله غیږه مبارکه کې ونیوله نوهغې ستنی اسویلی کوی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی دې ستنی به تل خطبه اوریدله اوس چی یې نه واوریدله نووې ژړل (بخاری شریف) قاضی عیاض اونورومحدثینوویلی دی چی دستنی دژړاحدیث متواتردی دصحابه کرام ﷺ له لویې ډلی څخه روایت سوی دی

امام شافعی رحمة الله علیه فرمایې چی حنین جذع یعنی دستنی دژړا معجزه دعیسی علیه السلام دمړی ترژوندی کولوډیره لویه معجزه دی ځکه مړی که ژوندی سي نوخپل زاړه حالت ته به را سي داسی نه دی لکه لرګۍ ځکه هغه خوخالص جماددی په ستن کې مخکې دژوندهیڅ نوم اونښان نه وو ستنی دنبی کریم ﷺ دجدائي په غم اودرد سره ژړل ډیرعجیبه دی امام بیهقی له امام شافعی رحمة الله علیه څخه داخبره نقل کړی ده

اودغه رنګه دونودرختو غرو اوډبروڅخه داسلام علیک یارسول الله غږونه اوریدل سوی دی اودنبی کریم ﷺ دلاس مبارک په اشاره سره بتان نړیدلی دی اودنبی کریم ﷺ په مجلس کې دخوراک تسبیح اوریدلی سوی دامعجزی هم ترمړی ژوندی کیدلوکمی نه دی اوبل داچی دنبی کریم ﷺ په راغوښتلوسره درختی راغلی دی اوبیرته دنبی کریم ﷺ په اشاره خپل ځای ته تللی دی داهم ترمړی ژوندی کولوکمه معجزه نه دی

لنډه داچی دمړی دژوندی کولوپه هکله په ډیرواحادیثوسره ډیر ښي په بیلابیلو سندو ثابتیږی یواځي که څه هم داروایتونه دصحت درجی ته نه دی رسیدلی مګر دخبری دیو والی په وجه ډیر روایتونه داثابتوی چی دمړی ژوندی کول درسول الله ﷺ معجزه ثابته سی نوځکه داییخی بی بنسټه اوبی اصله اوموضوع ګرزول صحیح نه دی .

دعیسی علیه السلام معجزی !

دعیسی علیه السلام په معجزاتو کې ترټولو لویه معجزه هغه ده کومه چی قرآن کریم بیان کړې

اَنِّیْ اَخْلُقُ لَکُمْ مِّنَ الطِّیْنِ کَهَیْئَةِ الطَّیْرِ فَاَنْفُخُ فِیْهِ فَیَکُوْنُ طَیْرًا بِاِذْنِ اللهِ (۴۹ آیت سورة آل عمران) عسی علیه السلام

په یوموټی خټه راواخیستله اوله هغې به یې دمرغۍ شکل جوړکی بیابه یې په هغه کې ساه پوه که هغه به دالله ﷻ په اراده سره مرغۍ سوه ویل کیږی چی دادخټی مرغۍ به تریوڅه ځایه والوتله وروسته به بیرته مړه پرځمکه راولویده ددې لپاره چی داصلی مرغۍ اوددې اعجازی مرغۍ توپیرراسی مګر دامعجزه په څلوروانجیلو کې نه ده یاده سوی

بله معجزه دعیسی علیه السلام مړی ژوندی کول وو چی هغه دمرغۍ ترمعجزه لږکمه ده ځکه چی څوک مړوی دهغه بیرته ژوندی کیدل دومره عجیب نه دی لکه چی څوک دخټی مرغۍ

جوړه کړی او هغه ژوندی سی دا ډیره نادره او له عادت خلاف دی

سيف لودين کتابتون

اوبله معجزه دعيسى عليه السلام دمريضانوشفاء يعني دناروغانودرملنه وه اوتردى ښکته معجزه مکاشفات دى داهم دعيسى عليه السلام معجزه وه لکه چې الله تعالى فرمايي (وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ (۴۹آيت سورة آل عمران) عيسى عليه السلام ته به الله تعالى دهغه شيانو خبرورکوى چې خلکوبه په خپلوکوروکې ذخيره کول اوجمعه کول دامعجزه يواځې په عيسى عليه السلام پورى خاص نه وه نوروپيغمبرانو عليهم السلام دبني اسرائيلوته هم ډيرمهم راتلونکي کارونه مخکې ترپيښيدو خبر ورکول سوى دى لکه چې په قرآن کريم کې درومیانودبرياليتوب خبر اته کاله مخکې نبى کريم ﷺ ته ورکړل سو اودخيبراوشام اوعراق دفتح خبرمخکې ورکړل سو ، نصارى دمسيح عليه السلام ۲۷ معجزې بيان کړى دى چې په ټولوکې لويه معجزه دمړيوژوندى کولومعجزه دى اودامعجزه هم دانجيل درواياتو پر بناء درې ځله پيښه سوى اول مړى دنائين ښاراوسيدونکي وو دهغه جنازه پورته سوى وه اودده مورژړل مسيح عليه السلام دهغه مړى جنازه ودروله ورته وې ويل اې ځوان پورته سه هغه مړى راپورته سو کښېنستى خبرى يې وکړى عيسى عليه السلام هغه مړى خپلې مورته وسپارى په دې سره پرخلکوباندى ويره راغله وې ويل چې دالوى نبى دى چې په موږکې راپورته سوى دى (انجيل لوقادرس يوولسم ۱۱ تراووه لسم ۱۷ پورى)

دويمه پيښه ديوى مړى انجلۍ دژوندى کيدووه چې په انجيل متى درس اتلسم ۱۸ کې تر شليرويشتم ۲۴ پورى ياده سوى ده (دريمه پيښه) دده ددوست لعزر دژوندى کيدودى چې هغه دزړه په دورى ومړ کله چې هغه مړسو اوخاورته وسپارل سو شلور ورځې وروسته مسيح عليه السلام تشريف راوړى اوپه لوړآواز يې ورته وويل اې لعزر راووزه هغه مړى دکفن ځخه چې لاسونه اوپښې يې تړل سوى وو راووتى اودده مخ په دسمال پټ وو يسوع هغه ته وويل داخلاص کړه (داپيښه دانجيل يوحناپه يوولسم ۱۱ باب کې ذکرسوى ده)

يهوديان دعيسى عليه السلام ددې معجزو په اړه وايې چې دادرې واړه کسان په حقيقت کې مړه نه وو بلکې دوئ دسکته په حالت کې وو ډيرځله داسې پيښې سوى دى چې يوسړى ډيرپيهوښ وى خلک يې مړوګڼي له همدې کبله په متمدن حکومتوکې ترهغه وخته پورى دمړى دښخولو اجازه نه ورکول کيږى ترڅوچې يوپوه ډاکټردهغه دمړينې شاهدى ونه ليکى مسلمانان وايې چې موږدمسيح عليه السلام دمړى راژوندى کولومعجزه دقرآن اوحديث دشاهدى پربناء باندى منوځکه دنصارى له علماء سره ددې معجزو هيڅ دسند سلسله نسته نه دوئ کوم متصل سند وړاندى کولاى سى نو موږ يې ددوئ په خبره نه بلکې دقرآن اوحديث په رڼاکې منو اودنبى کريم ﷺ معجزى په صحيح سند او متصل اومسلسل سند سره رانقل سوى دى اوروايت سوى دى اوکوم روايتونه چې په مرسل طريقه ياضعيف طريقه سره

سیف لودین کتابتون

روایت سوی دی هغه په ډیروسندوسره روایت سوی دی اوښکاره خبره ده چی دیوشئ راوړل په ډیروطریقواله بیلابیلوخلکوڅخه نقل کیدل ددې خبری دلیل دی چی داروایت بی اصل نه دی دطریقوپه ډیروالی سره په روایت کې قوت راځی اوډیروخت دصحیح او حسن درجی ته رسیږی اوله یهوداونصاری وو سره نه دسندسلسله سه اونه علم رجال یعنی نه په هغه خلکوخبردی چی دوئ نقل ځنی کوی چی فاسق وو که عادل څوک وو اودکوم ځای وو په هیڅ نه دی خبر ځکه په بایبل کې چی کومی پیښي راوړل سوی دی دهغو هیڅ وزن نه لری ..

دنبوت مقصداوهدف څه وی !

ټول اهل کتابوپردې باندی یوه خوله دی چی الله تعالی خپل غوره بندګان په دنیاکې انبیاء اوپیغمبران علیهم السلام رالیږلی دی اوپردوئ باندی یې وحی نازله کړی ددې لپاره چی دوئ دانسانانووسمی لاری ته لارښوونه وکړی اودوئ ته دهمیشنی خلاصون لار وښیي، نوپه کوم اصل چی اهل کتاب دبنی اسرائیلودانبیاء علیهم السلام دنبوت منونکي دی هغه اصل اوهدف په محمد مصطفی رسول الله صلی الله علیه وسلم کې هم موجوددی بلکې نبی کریم ﷺ دنبوت په ځانګړتیاوو اودرسالت په دلائلوکې ترټولوپیغمبرانوعلیهم السلام ډیر لوړدی اودروایت په لحاظ سره ترټولوفصیح اوله شک اوشبهوڅخه ډیر پاک اولوړدی ،، دنبوت اورسالت ترټولومهم اولوی اړخ ددین عقائد ، اوعبادت اواداب اواخلاق اواحکام اومعاملات دی دنبوت اورسالت دویم اړخ دلائل اوبراهین یعنی معجزی دی اودنبوت دریم اړخ پیش ګوئی یاوړاندوینه دی څلورم اړخ ددنیا اصلاح دی پنځم اړخ دهدایت اثردی رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې پنځه واړوخبروکې ترټولوپیغمبرانوعلیهم السلام ډیر لوړدی

دنصاری یعنی عیسایانودبیلاری لاملونه !

الله تعالی لکه څنګه چی نورپیغمبرانو علیهم السلام ته ښکاره معجزی ورکړی وی ددې لپاره چی ددوئ دنبوت اورسالت سنداودلیل سی دغه رنګه یې عیسی علیه السلام ته هم ډیر له عادت خلاف اوعجیبه کارونه ورکړی وونصاری وو چی کله دعیسی علیه السلام دانبنی ولیدی دوئ داسی وویل چی داپه خپله دعیسی علیه السلام په قدرت پیښنی سوی دی اودعیسی علیه السلام قدرت یې عین دالله ﷻ قدرت وبلی په دې وجه ناپوهانووویل چی معاذالله الله ﷻ په مسیح علیه السلام کې حلول کړی دی اوله هغه سره یوځای سوی دی اوخدای یودی

لکه په مسلمانانوکې چی یوشمیر خلک داولیاء الله په هکله ډیر شدت کوی دوئ په خپلواړتیاوواوغموکې اولیاء الله ته ناری وهی اوداګمان کوی چی دانیکان خلک ددې

سیف لودین کتابتون

خدای او معبود نه بولی بلکې دالله ﷻ بندګان یې بولی مګر بیا هم دغه خلک چې واولیاء الله ته داسی عقیده لری داسلام له دائری نه دی وتلی مګر بیا هم ددوئ له نصاری او شرک سره مشابهت خامخا شته او ددوئ داکار که څه هم اعتقادی او له دین وتونکی نه دی مګر دشرک عملی په کیدو کې ددې هیڅ شک او شبه نسته انبیاء علیهم السلام دالله ﷻ غوره بندګان دی ددوئ درالیږلو هدف یوائې دادی چې خلکو ته دالله ﷻ عبادت او پیژندلو سمه لاره وښیی او ددوئ داخلاق او اعمالو اصلاح او پاکی وکوی او ددوئ هغه نالیدلی نښې او له عادت خلاف کارونه چې ددوئ په لاس ښکاره کیږی هغه ددوئ دنبوت او رسالت دلائل دی سرګردار نه نصاری دامعجزی دخدای دلیل وګڼی او په دې نه سوپوه چې دا معجزی دانبیاء علیهم السلام په واک کې نه دی بلکې دالله ﷻ دقدرت آثار دی چې دالله ﷻ له لوری دانبیاء علیهم السلام دغوره والی دښکاره کولو لپاره یوائې دالله تعالی په کامل قدرت او اراده سره دانبیاء په لاسو باندی ښکاره کیږی دانبیاء علیهم السلام دقدرت او ارادی په دې دلائلو او ښکاره کیدو کې هیڅ دخل نسته الله تعالی په کائناتو کې پیغمبرانو علیهم السلام ته دتصرف کولو هیڅ قوت او قدرت نه دی ورکړی چې دوئ چې څه وغواړی هغه کیږی تردی اندازی چې دخپلو نږدی خپلوانو لکه پلار او زوی ته یې هم دهدایت ورکولو توان نه دی ورکړی داسی نه دی چې ددوئ خوښ وې هغه چا ته هدایت کوی نوح علیه السلام دخپل زوی په هدایت باندی او ابراهیم علیه السلام دآذر پر هدایت باندی نه وو قادر او رسول الله صلی الله علیه وسلم داقدرت نه درلودی چې خپل ګران آکا ابوطالب ته او ابولهب ته هدایت وکوی رسول الله ﷺ ډیره هڅه وکړه ترڅو چې داآیت نازل سو ﴿إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ ۚ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ﴾ ۵۶ آیت سورة القصص) په تحقیق سره هدایت ستا په اختیار کې نه دی چې ته وغواړی هغه چا ته هدایت وکړی مګر الله تعالی چې وغواړی هغه چاته هدایت کوی ..

حتی چې انبیاء علیهم السلام دخپلی ګټې او تاوان واک نه درلودی په وار وار انبیاء علیهم السلام ته دخپلو دښمنانو له لاسه رنګارنګ تکلیفونه او غمونه رسیدلی مګر دوئ دخپل ځان څخه هغه تکلیفونه او ستونزی نه سوی لیری کولای حتی چې یو شمیر خو په دې لاره کې شهیدان سوی هم دی او دالله تعالی ارشاد دی ﴿قُلْ إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا﴾ ۲۱ آیت سورة الجن) ته وورته ووایې چې زه ستاسو لپاره نه دکوم زیان مالک یم او نه دهدایت مالک یم او داسی ډیر آیاتونه په قرآن کریم شته چې الله تعالی فرمایې چې له ما پرته هیڅوک دګټې او تاوان مالک نه دی نو ځکه کوم څوک چې دګټې او تاوان واک نه لری هغه دعبادت او بندګی وړ هم نه دی درسول الله ﷺ څخه وروسته دخلفاء راشدین رضی الله عنهم دحکومت وخت

سیف لودین کتابتون

راغلی چې دوئ د قیصرا و کسری پاچهی ترپښو لاندی کې او دځمکې نیمه کره یې ترخپل واک لاندی راوسته له بریالیتوب وروسته یې دشرک او تیری ریښې له بیخه وکښلې او د بد واخلاقو او بې حیایې څخه یې ځمکه پاکه که او دالله ﷻ دیووالی او دالله ﷻ د دین او عدل او برابری یې دالله ﷻ په ځمکه کې وغوړی تردی پوری چې دوئ په مهربانی او انصاف او تدبیرا و هوښیاری او عقل کې یوه نمونه جوړ سو.

اوددې پرعکس دعیسایانو حکومتونه ته تاسو خپله وګوری چې دوئ د توحید پرځای تثلیث درې خدایان دعقیدی بیرغ پورته کړي اوشراب خوری اوشهوت پرستی اورنګارنګ بداخلاقی او بې حیایې دروازه یې خلاصه کړه اوس یې هم دنیا دسرپه ستر ګووینی (عیان راچه بیان) (نن ورځ دنړۍ دټولو کافرانو ډیموکراسی یونوی دین فحاشی او عیاشی او ظلم یې قوانین دښځوآزادی اوزنایې او ایډزیې ویاړ له اسلام سره جګړه یې دتروریست په نامه دی لکه همدا اوس چې په افغانستان کې روانه ده (کاتب)

د دین درې بنیادی اصول !

د دین بنیادی اصول درې دی چې هغه ټولو پیغمبرانو راوړی دی هغه شیان چې دانسان د نیک بختی او کامیابی دارومدار دی، هغه همدا درې دی ، ۱ توحید ، ۲ رسالت ، ۳ قیامت د رسول الله ﷺ تربعثت مخکې ټوله نړۍ په ګمراهی اخته وه قرآن کریم په همدې وخت کې نازل سو او دالله ﷻ له لوری هدایت او اصلاحات یې راوړل د اصول او فروع ټولو بې لاریو سمون یې وکی او ترټولو مخکی یې ددې درې اصولو په اړه چې کومه بې لاری خپره سوی وه د هغه سمون یې وکړ

لومړنی اصل توحید دی ، دالله ﷻ یووالی

ترټولو لومړی او ترټولو لوړ اصل توحید دی چې د هغه په اړه ټول قومونه بیلاری سوی وو مجوس خوده دوو ۲ خدایانو منونکي وو او اهل کتاب په شرک او بت پرستی اخته سوی وو

یهود لعنهم الله

یهود سره له دې چې د پیغمبرانو په ښوونو او سمو لاروخبروو مګر دوئ هم دالله ﷻ دیو والی په اړه بیلاری سو دوئ وویل چې الله ﷻ دانسان په څیر ستړی کیږی هم معاذالله او دانسان په پیداکولو باندی پښیمانه کیږی هم او دخدای له اسرائیلو مقابله هم سوی خدای د اسرائیلو له نیولو څخه تر هغه وخت نه سو خلاص ترڅو چې یې هغه ته برکت ورنه کړ

نصاری ضالین !

نصاری خو ټول دشرک ښکار سو دوئ ددرې خدایانو مشرکانه عقیده جوړه کړه خو قرآن

سیف لودین کتابتون

دویم اصل دنبوت عقیده دی !

مشرکین خوله لویه سره له نبوت څخه منکروو اوبشریت به یې دنبوت ضد بلې اویهودو که څه هم دنبوت منونکي وو مګر سره له دی یې انبیاء کرام علیهم السلام له الله ﷻ سره په دروغ اوچل کولو کې ککړ ګڼل او دپیغمبرانو دکبیره ګناه دکولوویونکي دی و اوبل داچې یهودونبوت دبنی اسرائیلومیراث ګڼی اوتردوئ پوری خاص بلی اودابه یې ویل چې دنبوت منصب دبنی اسرائیلولپاره خاص سوی دی دوئ وایې معاذالله الله تعالی دخپل استازی په حیث له بنی اسرائیلوپرته بل څوک نه سی ټاکلای دیهودوپه څیرعیسایانوهم داعقیده درلوده چې نبوت تراسرائیلوپوری محدوددی اودمسیح ﷺ اودهغه دحواریینو پرته به یې بل کوم نبی معصوم نه ګڼی اوعیسایانودیهودوپه خلاف دمسیح ﷺ دخدایی اودخدای دزوی کیدوقائل وو معاذالله قرآن کریم ډیر ځایونه دمشرکینواویهودو اونصاری دنبوت دعقیدی په هکله ښه اصلاح کړی اودوئ فاسده عقیده یې ردکړی اوسمه لاره یې بیان کړی ده .

دریم اصل دقیامت عقیده ساتل دی یعنی دسزااوجزاعقیده لرل لازمی دی !

دریم اصل دآخرت پرورځ ایمان راوړل دی اوپه اعمالوباندی دجزاء اوسزااوحساب اوکتاب باندی یقین درلودل دی .

مشرکین اوبت پرستان خودقیامت له سخت والی څخه منکروو اودجزاءاوسزاء یې نه منله دجزاء اوسزاء په مسئله کې عیسایانوداسی غلط اوبی بنیاده عقیده جوړه کړه چې دوئ دفدیه په ورکولوسره دخلاصون عقیده وساتله دوئ وایې : چې فدیه خلاصونکونکي جوړیږی اوانسانانود ګناهونوله سزاڅخه ساتی

دیهودیانوبیاداعقیده دی چې الله تعالی په دنیااوآخرت کې یوائې د بنی اسرائیلو ملګر ی دی اوجنت هم په بنی اسرائیلوپوری خاص دی بل څوک نه سی ورتلای .

داسلام لارښوونه !

اسلام دجزاءاوسزاپه هکله وایې چې خلاصون په ایمان اوعمل صالح ښه عمل سره دی په ایمان اوکفرباندی چې کومه سزاورکول کیږی په هغې کې یوه قوم ته پربل قوم باند ی هیڅ غوره والی نه ورکول کیږی ، بلکې آخری درجه دادی چې په عدل اوانصاف سره په ایمان اوښوکاروباندی ثواب اوکفراوبدوکاروبه عذاب وی په سزاء کې به عدل پوره وی چې دیوی بدی اویوی ګناه بدله به یوه ورکول کیږی اودښوکاروپه بدله اوانعام کې به له عدل سره سره احسان اومهربانی اوسخاهم غالبه وی مثلا دیوی نیکی بدله به لس چنده ورکول کیږی اوکه دالله خوښه وه نونوره هم زیاتوی .

سیف لودین کتابتون

قرآن کریم دا مسئله په ډیر عجیبه انداز سره بیان کړی دی او په وار واریې تکرار کړی او په هرځای کی یې په زړه راښکونکو دلائلو سره ښه روښانه کړیا و په نورو بیشمیره دلائلو سره یې هغه ثابت کړی دی :

لکه چی الله تعالی فرمایي ﴿اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ﴾ () (۱۱۵آیت سورة المؤمنون) ﴿اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى﴾ (۳۶) ﴿اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى﴾ (۳۷) ﴿ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوّٰى﴾ (۳۸) ﴿فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى﴾ (۳۹) ﴿اَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْـِۧيَ الْمَوْتٰى﴾ ۴۰آیت سورة القیامة)

ژباړه : آیا تاسو دا ګمان کوی چی موږ تاسو بیکاره او بیفایدی پیدا کړی یاست او تاسو به موږ ته بیرته نه راځی . ،،، آیا انسان دا ګمان کوی چی هغه به مهمل او بی قیده پریښودل کیږی آیا انسان دمنی له یوی ټوټی څخه نه وو بیا دوینی ټوټه سوه بیا الله تعالی هغه صحی سالم جوړکي بیایې دانسان دوه قسمونه جوړکړل یو نر او بل ښځه نو آیا هغه الله ﷻ چی په خپل قدرت سره یې دا هرڅه جوړکړل په دې باندی نه دی قادرچی مړی بیرته راژوندی کړی او دژوندی کولو څخه وروسته له دوئ څخه حساب او کتاب واخلی ..

فلاسفه حکماء خو قیامت منی مګر یواځی دروحانی قیامت منونکي دی بدنی قیامت نه منی . خو اسلام دبدن او روح سره یوځای ددویم ژوندښوونه ورکوی دحکمت نظریه لرونکي یواځی دروحانی قیامت اودروح په راپاڅیدلو باندی په دې وجه ټینګار کوی چی بدنی خوندونه سپک ګڼی او دوئ وایې چی دا یواځی حیوانیت دی او سره له دی چی دوئ په خپله په بدنی خوندو باندی عاشقان دی او په دې نه پوهیږی چی انسان دبدن او روح دواړو څخه جوړدی او دوئ دواړه دالله ﷻ په احکامو امرسوی دی نو ځکه جزاء او سزا هم بایددواړو ته ورکول سی ،،

نوهغه دین چی له هرپلوه کامل او پوره وی او د اصول او فروع په اعتبار سره معقول او مدلل وی هغه دین کامل دی دا هغه دین چی دده په اتباع سره الله ﷻ ته څوک رسیدای سی لکه چی الله تعالی فرمایي :

﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾ ۳آیت سورة المائدة) ﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ﴾ ۸۵آیت سورة آل عمران)

دنبی کریم ﷺ هغه ځانګړتیاوی چی په نورو انبیاء علیهم السلام کي نشته !

دنبی کریم ﷺ له خصوصیتونو څخه هغه فضائل او کمالات مراددی چی الله تعالی یواځي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړی دی او له انبیاء علیهم السلام څخه یې بل نبی علیه السلام ته نه

سیف لودين كتابتون

دی ورکړی په حديث شريف کې راځی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : چی ماته يوڅوداسی شيان راکړل سوی چی هغه ترمامخکې بل هيڅ پيغمبر ﷺ ته نه دی ورکړل سوی :

(۱) زه ټولی ديناته راليږل سوی يم ترمامخکی ټول پيغمبران به يوائی خپلو خپلو قوموته راليږل کيدل اوزه ټولی دنياته راليږل سوی يم لکه چی الله تعالی فرمايي :

﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعاً الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُواْ بِاللهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾ ۱۵۸ آيت سورة الاعراف) ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيراً وَنَذِيراً وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ﴾ ۲۸ آيت سورة سبا)، تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيراً﴾ ۱ آيت سورة الفرقان)

(۲) زه خاتم النبيين عليهم السلام يم په ما باندی انبياء عليهم السلام سلسله پای ته ورسيده ترماوروسته بل هيڅ نبی نسته لکه چی الله تعالی فرمايي ﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيماً﴾ ۴۰ آيت سورة الاحزاب) ،، وقال الله تعالی الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِيناً (۳ آيت سورة المائدة)

(۳) اوماته جوامع الكلم راکړل سوی دی يعنی داسی کوتاه اوپوره خبری چی ددوئ لفظونه خولړوی مگر معناگانی بی شميره زياتی وی لکه چی داحاديثوکتابونه ددې شاهدی ورکوی ځکه دوئ ټول دحق عقيدی اوښوکارو اوښواخلاقو اوددين اودنيا ټول احکام اوقانون اوقواعدپه احاديثوکې شته

(۳) زماويره اوهيبت په سبب ماته فتح اومرسته راکړل سوی پرته له ظاهری اسبابوڅخه ديوی مياشتی دمزل په اندازه زمادښمنان له ماويرېږی داغيبی مرسته وه چی ديوی مياشتی دسفرپه اندازه کې به دددښمنانوپه زړوکې دنبی کريم ﷺ ويره پرته وه لکه چی الله تعالی فرمايي ،، ﴿سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُواْ الرُّعْبَ بِمَا أَشْرَكُواْ بِاللهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَاناً وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَبِئْسَ مَثْوَى الظَّالِمِينَ﴾ ۱۵۱ آيت سورة آل عمران) وقال الله تعالی ﴿وَأَنزَلَ الَّذِينَ ظَاهَرُوهُم مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِن صَيَاصِيهِمْ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيقاً تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقاً﴾ ۲۶ آيت سورة الاحزاب)

(۵) ټوله ځمکه زمالپاره دسجدی ځای اوپاکه سوی ده يعنی زماامت هرځای دلمانځه کولواجازه لری که مسجدوی اوکه مسجدنه وی اوزمالپاره په پاکه خاوره سره دتيمم حکم نازل سوی دی چی ماته اوزماامت ته داړتياپه وخت کې روادی چی تيمم وکړی اوخاوره داوبوپه څيرپاکونکي جوړه سوی ده

(۶) دغنيمت مال زمالپاره حلال کړل سوی دی اوترمامخکی هيڅ يوه پيغمبرته نه وو حلال

سیف لودین کتابتون

(۷) زما امت به د ټولو پیغمبرانو ترمنو نکو ډیر وی په حدیث کې راځی چی د قیامت په ورځ به د ټولو امتو صفونه یو سل شل ۱۲۰ وی چی په هغو کې به زما دامت اتیا ۸۰ صفونه وی
(۸) ما ته د لوی شفاعت مرتبه راکول سوی چی د قیامت په ورځ به اولین او آخرین ما ته رجوع کوی اوزه به د الله ﷻ په دربار کې د دوئ شفاعت کوم
(۹) د ټولو انبیاء علیهم السلام اورسولانو څخه مخکې به زه له خپل امت سره په پل صراط باندی تیریږم.
(۱۰) تر ټولو لومړی به زه جنت ته داخلیږم او ابوبکر صدیق رضی الله عنه او عمر فاروق رضی الله عنه به زما راسته او چپه طرفته وی
او په جنت کې به دهر نبی علیه السلام لپاره حوض وی او زما حوض به تر ټولو ډیر فراخ او ښائسته وی .... فتلک عشرة کاملة
دې حقیر بنده د خپل ضعف او کمزوری په وجه د معجزو او خصوصیاتو په بیان کې له ډیر اجمال او کوتاهی څخه کار واخیستی ځکه د دې خصوصیاتو په هکله احادیث ډیر مشهور دی او س زه خپل تصنیف (سیرة المصطفی ﷺ) دریمه برخه پای ته رسوم او د الله ﷻ څخه دا دعاء غواړم چی الله تعالی دې ودې ناچیز او دهغه داولاد و خاتمه په خیر کې او درسول الله صلی الله علیه وسلم شفاعت او دهغه په حوض کوثر باندی حاضری او له هغه څخه او به څیښل نصیب کې آمین وآخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی حبیبه سید الاولین والآخرین وعلی آله واصحابه وعلماء امته والیاء زمرته اجمعین وعلینا معهم یا ارحم الراحمین ویا اکرم الاکرمین واجود الاجودین وخیر المسؤلین ویا خیر المعطین . آمین یارب العالمین

د دې آخری برخی دویم ځل کتل خلاص سو الله ﷻ لره ثناء او صفت دی په اول کې هم او په اخر کې هم د محرم الحرام د میاشتی اته ویشتمه ۲۸ کال دیارلس سوه اته پنځوس ۱۳۵۸ هجری قمری ..محمد ادریس کان الله له وکان هو لله (آمین)

او د دې کتاب پښتو ترجمه په کال ۱۴۳۵ هجری سپوږمیزکې د محرم الحرام د میاشتی په ۱۷ د پنج شنبی ورځ پای ته ورسیده الله تعالی د دې کتاب جوړونکي او ترجمه کونکي او لیکونکي او لوستونکی ته د ښو اعمال او حسن الخاتمه توفیق ورکړی (آمین)

پښتو ژباړه (ابوحمزه المهاجر حمدالله زابلی) د هجرت نړۍ کوټه) کال ۱۴۳۵ محرم الحرام مطابق ۲۰۱۳ /۱۱/ ۲۱)

سیف لودین کتابتون

زه رښتینی نبی یم الله ﷻ چې له ماسره دفتح کومه وعده کړی اوزما دساتنې ژمنه یې کړې ده (۱) هغه بیخی حق ده په هغه ژمنه کې ددروغو امکان هم نشته اوزه دعبدالمطلب زوی یم ، دعباس ؓ ډیر لوړږغ وو رسول الله ﷺ نوموړی ته حکم وکی چې مهاجرین اوانصارو ؓ ته ناره وکړه هغه په لوړآواز دانعره وکړه (یامعشرالانصار یا اصحاب السمرة) اې دانصارو ؓ ټولی اې هغه خلکوچې ترونه لاندې موبیعت رضوان کړی وو ،، ددې آواز په اوریدوسره صحابه کرام ؓ دپتنګانوپه شیر دنبوت دشمع په شاوخوا راوګرزیدل رسول الله ﷺ پرمشرکینوباندی دبرید امروکی کله چې سخت جنګ پیل سو اودجنګ په ډګرکې دتوروبریښناوی پورته سوی رسول الله ﷺ یوموټی خاوری راواخیستی اودکافرانو وخواته یې وپاشلې اودایې وفرمایل (شاهت الوجوه (رواه مسلم) تورسودامخونه ،،، دصحیح مسلم په بل روایت کې راځي چې رسول الله ﷺ دیوه موټی خاوری له ویشتلو وروسته داوفرمایل (انهزموا ورب محمد) قسم په رب ﷻ دمحمد ﷺ دوئ ماته وخوړه هیڅ یومشرک پاته نه سو چې دهغه په سترګوکې دی دهغه یوه موټی خاوری ګرځ نه وي لویدلی اویوساعت لانه وو تیرسوی چې دښمنانو ماته وخوړه اوپښې یې دجنګ له میدان وښویدی ډیر وتښتیدل اوپه زرهاووبندیان سوپه دی اړه الله تعالی داآیت نازل کی

﴿ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئاً وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴾(۲۵) ﴿ثُمَّ أَنزَلَ اللهُ سَكِينَتَهُ عَلَى رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُوداً لَّمْ تَرَوْهَا وَعذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُواْ وَذَلِكَ جَزَاء الْكَافِرِينَ ﴾(۲٦) سورة التوبه)

له یوه لوری رسول الله ﷺ خاوره دکافرانوپرمخ وشیندله له بل لوری داسلام سپاهیانویواځې دالله ﷻ په مرسته باور وکی اوبریدیې پیل کې په یوه ګړی ماته په بری بدله سوه دهوازن قبیلې پهلوانان سره له ډیره زوره اودبدبې له میدان وتښتیدل مسلمانانودوئ بندیانول ددښمن اویاتنه ووژل سو اوپه زرګونونوربندیان سو اوبې شمیره مالونه اوشتمنی دمسلمانانو لاس ته ورغلی (۲)

جبیربن مطعم ؓ روایت کوی چې دهوازن له ماتې لږ مخکې یوتور پټوماولیدی چې له آسمان راښکته سو هغه پټوزموږ اوددښمنانوپه مینځ کې ولویدی ناڅاپه له دې پټوتورمیږیان راووتل اودجنګ په میدان کې خواره واره سو ماته دهغوئ په ملائکوکیدوکې یوه ذره شک هم نه و کله چې دوئ راښکته سو دښمنانوهم ماته وخوړه (۳) له ماته خوړلوورروسته دثقیف اوهوازن مشر اوسپه سالار مالک بن عوف نصری له یوی ډلی سره وتښتیدي اوطاس ته یې ځان ورسوی هم هلته یې پناه واخیسته اوڅه خلک بیانخله ته وتښتیدل ،رسول الله ﷺ دابوموسی اشعری ؓ آکا ابوعامراشعری ؓ له لږ فوځ سره ددوئ دمخنیوی لپاره اوطاس ته ولیږی کله چې دوئ هلته ورسیدل سمدستی جګړه

(۱) اشارة الی قوله تعالی (والله یعصمک من الناس)
(۲) عیون الاثر جلد ۲ /ص /۱۹۲)
(۳) فتح الباری جلد ۸ /ص /۳۴)

سیف لودین کتابتون